پښتو لغت

دریاب

مؤلفین
قلندر مومند
فرید صحرائی

این-ډبلیو-ایف-پی ټیکسټ بک بورډ پېښور

// ATTENTION

This E-Dictionary/PDF (Daryab) are not permissible by Pukhto.Net
to sell or distribute and are not allowed to upload on other domains and
websites, blogs, free online drives like mediafire.org, 4shared.com,
archive.org, mega.co.nz, icloud.com, evernote.com, dropbox.com,
scribd.com etc, otherwise we will take reasonable and swift action
to remedy an infrigement.

Pukhto.net

پښتو لغت

درياب

مؤلفين

قلندر مومند

فريد صحرائی

اين-ډبليو-ايف-پی ټيکسټ بک بورډ پېښور

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

د لغت واړه حقونه
د محکمه تعلیم حکومت صوبه سرحد
په حق کښې محفوظ دی

چاپ کوونکے	حاجی خواج محمد
چاپخانه	امید پرنټرز، دربار مارکیټ، لاهور
کمپوزرز	محمد امجد امین جهانګیر
پروف ریډر	مظهر علی
تعداد	4100
د چاپ کال	1994ء / 1415ھ
ایډیشن	اول
قیمت	450 روپۍ

www.pukhto.net

انتساب

دَ حافظ الملک حافظ رحمت خان بړېڅ

دَ خوئ

نواب الله یار خان بړېڅ پهٔ نوم
چې پهٔ وړومبی خل ئې کال ۱۸۰۸ء کښې
دَ " عجائب اللغات " پهٔ نامه دَ پښتو، عربی، فارسی او هندی لغت لیکلے وهٔ

www.pukhto.net

تشریحات

۱ دَ کوم سېلاب دَ لاندې چې کرښه وی هغه به زورلے لَستے شی- لکه " شړلے " (شه-ړهٔ-لے)-

۲ دَ " م " نه مطلب مونږ دے او چې کومو ټکیو سره دَ ژبو دَ ذکر نه مخکښې دا حرف راشی نو زمونږ مقصد ترې دا وی چې دَ لغت مُتعلقه لفظ اصل کښې لهٔ هغه ژبې اخستے شوے دے لکه سرمایه (م- فارسی)-

۳ دَ " ش " نه مطلب شریک دے او کومو لفظونو سره چې دَ ژبو دَ ذکر نه اول دا حرف راشی نو زمونږ مقصد ترې دا وی چې دغه لفظونه دَ پښتو او دغو ژبو ترمینځه شریک وی لکه آکا (ش- فارسی)-

۴ ڼ (نوڼ) هغه ځایُ کښې استعمال شوے دے چې پخوا به " نړ " لیکلے شو لکه " ورونه "-

۵ " ی " یایُ معروف هغه توریو کښې استعمالیږی چې اواز یُ راکښلے او لنډ وی لکه " خیر، تیر، فقیر " وغېره- دَ هغه اسمونو اخر ته راځی چې جمع مذکر وی لکه " سړی، تندی " وغېره- دَ فعل حال دَ صیغه واحد غائب پهٔ اخر کښې راځی لکه " ځی، کوی "- دَ نسبَت دَ پاره راځی لکه " دوست " نه " دوستی "-

۶ دَ پښتو مخصوصه " ې " هغه توریو کښې لیکلے شوې ده چې مخکښې حرف ترې مکسور یا نیم مکسور وی لکه " سړې اُبهٔ ، تورې سترګې " وغېره-

۷ دَ " ئ " حرف هغه لفظونو کښې لیکلے شوے دے چې اسمونه وی، مؤنث وی او واحد او جمع یُ یو شان وی لکه " غلئ، چېلئ، کرسئ " وغېره-

۸ دَ " ے " استعمال پهٔ هغه توریو کښې کیږی چې مذکر وی او واحد وی او مخکښې حرف یُ مفتوح وی لکه " سړے، تندے " وغېره-

۹ دَ " ی " دَ مختلفو قسمونو ترتیب پهٔ دې ډول دے " ی، ې، ئ، ے "-

پېش لفظ

عام مقبوليت لرونکے يو معيارى مستند لُغت دَ يوې ژوندى ژبې دَ پاره دومره جوت دے چې زيات تفصيل ته حاجت نۀ لرى- دَ رسم الخط، املا، هجې، تلفظ او دَ گرامر ضرورى او بنيادى اصول تر يو مستند معيار رسول دَ يوې ژبې ارتقائى ودې دَ پاره بنيادى حېثيت لرى او دا محض دَ يو مُستند لُغت پۀ ذريعه کېدے شى-

دَ لُغت نويسى کار چې څومره اهم دے دومره دَ خپلو مضمراتو لۀ کبله ډېر گران هم دے ځکه چې هيڅ يو لُغت هُم پۀ سرسرى تحقيق خپله اډانه نۀ لرى بلکې دومره ژور تحقيق غواړى چې پۀ کارکونکى ورځ او شپه يوه کړى او هُم دغه وجه ده چې دې گران کار ته پۀ ډېره گرانه چا ليکونکى، محقق غاړه اېښې ده-

پُښتو ژبه ډېره خوږه وره ژبه ده- مختلفې لهجې لرى- نو دَ داسې ژبې تورى راغنډول او هغې ته لُغوى ترتيب ورکول ځان له يو ډېر گران کار دے-

مونږ دا منو چې زمونږ نه مخکښې دَ پُښتو قدرمنو تر خپله وسه دَ لُغتونو دَ جوړولو کوششونه کړى دى او تر ډېره حده کامياب دى چې پۀ دغې کښې دَ مستشرقينو کار هُم دَ ستائنې وړ دے خو دغه لُغتونه دَ حکومتى ضرورتونو لۀ خوا لاندې جوړ شوى دى کوم چې اوس کمياب هُم دى او کۀ څۀ پۀ لاس راځى نو دغه لُغتونه هُم دَ پُښتو دَ توريو تشريح پۀ پُښتو کښې نۀ لرى-

دَ دغه مستشرقينو دَ لُغتونو نه علاوه چې کوم لُغتونه ليکلى شوى وو هغه يا خو نيمگړى دى او يا يې معنې پۀ پُښتو کښې نشته-

چونکې دَ پُښتو ځنيو مئينانو دَ سکولونو، کالجونو دَ استاذانو او دَ ادب دَ طالبعلمانو دَ مشکلاتو لرې کولو دَ پاره دَ يو ډېر لوئ ژور تحقيق ضرورت محسوس کړو چې دَ هغې پۀ نتيجه کښې دَ يو جلد يو داسې لُغت جوړ کړے شى چې دَ پُښتو دَ توريو تشريح پۀ پښتو کښې لرى او هُم دغه وجه وه چې پۀ کال ۱۹۸۲ء کښې دَ محکمه تعليم لۀ خوا دَ " پُښتو ډکشنرى

www.pukhto.net

پراجېکټ " دَ ستر محقق، عالم او پوهاند پروفېسر قلندر مومند دَ سرپرستی لاندې شروع شو چې دَ مختلفو چاپي او قلمي نسخو نه پکښې استفاده وشوه او دَ پښتو دَ هر ممکنه موندونکي کتاب نه توری راغُنډ کړے شو- دغه کار تر کال ۱۹۹۱ء پورې سر ته ورسېدهٔ او لُغت دَ نور کار او چاپ کولو دَ پاره سرحد ټېکسټ بک بورډ پېښور ته دَ انتهائي کمې عملې سره وسپارلے شو-

دلته دَ درې کاله ډېر تېز کار نه پس اوس مونږ دَ دې جوګه يُو چې دَ پښتو دا لُغت خپلو مئېنانو او قدردانانو ته وړاندې کړو-

پهٔ دې لُغت کښې چې دَ کومو مفيدو او منفردو اضافو طرف ته خاص توجه ورکړے شوې ده هغه دا دی :

۱- دَ پښتو دَ توريو پهٔ پښتو کښې تشريح-
۲- دَ تلفظ دَ پاره دَ ساده طريقې څرګندونه-
۳- دَ ونو، بُوټو نباتاتي نومونه او دَ ځناورو، مارغانو حېواناتي نومونه، چې تر کومه حده موندے شو، شاملونه-
۴- دَ ماخذ ذريعې چې چرته يُ ضرورت وهٔ، چې ورته پهٔ لُغت کښې اشاره پهٔ " م " (مونډ) او " ش " (شريک) شوې ده-

مونږ لهٔ خپله طرفه دا پوره کوشش کړے دے چې الفاظ او معنې دې صحيح وی، خو کهٔ چرې دې کښې څهٔ غلطي وموندلے شي نو دا به زمونږ دَ محنت دَ کمی نه بلکې دَ علم دَ کمي نتيجه وی چې يُ مونږ معافي غواړو- داسې غلطې کهٔ دَ کوم لُستونکي تر نظره راشي نو خواست کوؤ چې پهٔ ډېره مينه يُ مونږ ته پهٔ ګُته کړی چې پهٔ راتلونکی اېډيشن کښې يُ اصلاح وُکړے شي- زمونږ دا هُم خواست دے چې دَ مطالعې پهٔ دوران کښې کهٔ لُستونکے محسوس کړی چې يو تورے پاتې شوے دے نو پکار دی چې پهٔ مونږ دَ احسان او دَ پښتو سره دَ مينې پهٔ غرض يُ مونږ ته راولېږی- مونږ به يُ دَ هغویٔ دَ شکريې سره پهٔ بل اېډيشن کښې شامل کړو- پهٔ دې اېډيشن کښې به تاسو ته دَ کمپيوټر دَ " سافټ وېئر " دَ مسئلې او دَ کار ختمولو کښې دَ تندی پهٔ وجه دَ لفظونو او معنو ليک يو شان ښکاری- پهٔ دويم اېډيشن کښې به دَ چاپ دَ نور ښهٔ کولو کوشش کولے شي او دا کمې به لهٔ مخه ووځي-

په اخر کښې مونږ د خپلو محسنانو، لیفټیننټ جنرل فضل حق (مرحوم)، بریګیډیر امیر ګلستان جنجوعه د صوبه سرحد د سابق ګورنرانو او د موجوده ګورنر، ښاغلی میجر جنرل (ریټائرډ) خورشید علی خان، ډیر ممنون یو چې هغوی دې کار کښې زمونږ مرسته کړې ده- د ګران امتیاز احمد صاحبزاده د هغه زیار هم مننه کوو چې د ایډیشنل چیف سیکرټری (پلاننګ اینډ ډوېلپمنټ ډیپارټمنټ) په حیثیت د دې لغت منصوبه ئې ذهن ته راوستله او بیا ئې ورلره عملی شکل ورکړو او تر اخره ئې د دې سرپرستی وکړه- په دې لړ کښې مونږ ښاغلے محمد اعظم خان هم د ډیرې شکریې وړ ګڼو چې د سیکرټری تعلیم نه تر چیف سیکرټری عهدې پورې ئې زمونږ سره هر قسم مرسته کړې ده او وخت په وخت ئې زمونږه ګرانی اسانې کړی دی- دغسې د ښاغلی اعجاز رحیم مننه کوو چې هغوی هم د سیکرټری تعلیم د عهدې نه واخله تر چیف سیکرټری عهدې پورې مونږ د خپلې سرپرستی د سیوری لاندې ساتلی یو- لغت نویسی د یوې ژوندی ژبې یو داسې مسلسل او ارتقائی کار وی، چې د کوم له کبله د لغت نوی ایډیشنونه وخت په وخت ډیر ضروری شی- د ښاغلی اصف شاه، سیکرټری تعلیم صوبه سرحد، له خوا د دې منلی حقیقت د احساس او د هغوی د کوششونو چې د دې کار د پاره د موجوده پښتو ډکشنری سیل له دې مستقل حیثیت ورکړے شی، د زړه له تله مننه کوو-

مونږ د پروفیسر میکنزی، ګوټینګن یونیورسټی، جرمنی (GOTTINGEN UNIVERSITY, GERMANY) د پښتو یو ستر عالم، چې د دې لغت د پاره ئې د پښتو کمپیوټری " فانټس " او د " سافټ ویئر " بنیادی خدوخال مرتب کړی دی، بې کچه شکرګزار یو- د عمر فاروق صاحبزاده د مینې او مسلسلې دلچسپی ډیره شکریه ادا کوو چې د هغوی د ډیرې حوصله افزایی په وجه مونږ دا کار سر ته ورسوه-

www.pukhto.net

مونږ دَ ښاغليو ممتاز اکبر، سابق چيئرمين، پروفيسر بختيار خان، سابق ممبر، او محمد يعقوب جان، سيکرټري، ټيکسټ بک بورډ، دَ زړهٔ لهٔ اخلاصه شکريه ادا کوو چې مونږ سره ئې وخت پهٔ وخت تعاون کړے دے- دَ عبدالرحيم مجذوب، قيوم مروت، اکرام الله گران او سيد محمود ظفر دَ مرستې هُم ممنون يُو-

ښاغلی سيّد جعفر حيات، چيئرمين، او پروفيسر محمد امين، ممبر، سرحد ټيکسټ بک بورډ، دَ ډيرې شکريې وړ ځکه گڼو چې دَ مغوی دَ لُغت دَ تکميل سره دَ ډيرې دلچسپۍ او دَ بې کچه توجه لهٔ کبله دَ دې لُغت وَړد کار را لنډ شو-

زمونږ لهٔ خوا به دا يوه لويه کوتاهي وی کهٔ مونږ دا " پيش لفظ " سر ته ورسوو او دَ محمد امجد امين او جهانگير ذکر وُ نهٔ کړو چې دَ کمپيوټر دَ " سافټ ويئر " دَ مرتنوب او دَ خپل دَ نهٔ ستړی کيدونکی او خنده رويه محنت لهٔ کبله پهٔ کمپيوټر کښې دَ توريو اندراج دَ مقرره وخت دننه وکړو او دَ دې لُغت چاپ ئې ممکن کړو- دَ مظهر علی هُم ډيره مننه کوو چې دَ پروف ريډنگ زړهٔ ستړے کار ئې پهٔ ډير مهارت او روڼ تندی سر ته ورسوهٔ-

فريد صحرائی
پښتو ډکشنری سيل
يکم ربيع الاول ۱۴۱۵ھ
۱۰ اگست ۱۹۹۴ء

www.pukhto.net

مننــــه

لهٔ مودو راسې چې دَ پومې او څېړنې پهٔ مېدان کښې دَ کوم شی کمے محسوسولے شو هغه دَ پښتو ژبې یک لسانی (UNILINGUAL) لُغت وهٔ- دَ لوئ خدائ احسان دے چې دغه کمے تر ممکنه حده پوره شو او دَ پښتو ژبې دَ کارکونکیو، طالب علمانو یو زوړ ارمان ورژېدو- زهٔ هیله لرم چې دا لُغت بهٔ لهٔ خپله رویه یو تاریخی او یادګاری پېشکش وی او دَ پښتو ژبې دَ پرمختګ پهٔ سلسله کښې به ډېر مفید ثابت شی- زهٔ دا دَ سرحد ټېکسټ بُک بورډ دَ عملې او پښتو ډکشنری سېل دَ اهلِ کارو دَ پاره ډېر لوئ اعزاز ګڼم چې دَ مغوی پهٔ تعاون سره دا ډېر لوئ او اَهم کار پهٔ ډېر کم وخت کښې ترسره ورسېدهٔ او هغه دفتری کشالې وخت پهٔ وخت اوارې کړے شوې کومې چې مر نوی کار ته پېښېدے شی- زهٔ پهٔ دې لړ کښې دَ مرسته کونکیو ټولو هغه وګړیو شکریه ادا کوم چا چې دَ دې ادارې سره لړ څهٔ هُم تعاون او دَ خپل علمی تړون اظهار کړے دے چې لهٔ مغې کبله مونږ دَ دې جوګه شو چې دا ځلانده لُغت دَ طباعت پهٔ کالی پسوللے کړو- دَ ټولو نه اکاهُو زما پهٔ نزد دَ دې صوبې اعلیٰ انتظامی واکداران ښاغلی امیر ګلستان جنجوعه سابق ګورنر سرحد او مېجر جنرل خورشید علی خان موجوده ګورنر دَ ډېرې ستائنې وړ دی چې دَ مغوی دَ درستې رهنمائی او کوټلو مشورو پهٔ هیله دَ دې لُغت دَ طباعت مرحلې اسانې شوې- کهٔ دَ دوی سرپرستی او دَ قدر وړه لارښودنه نهٔ وے نو یقیناً دَ دې بورډ دَ پاره به دَ یو داسې ګران کار سر ته رسول ناممکن شوی وو-

زهٔ دَ صوبه سرحد دَ وزیرِ اعلیٰ ښاغلی افتاب احمد خان شېرپاؤ مم دَ زړهٔ لهٔ تله مننه کوم او هیله لرم چې دوی به پښتو سره خپله مینه جاری وساتی او دَ ډکشنری دَ انلده اېډیشنونو دَ پاره به مناسب بندوبست وکړی-

زهٔ دَ سیکرټرېټ دَ ځینو واکدارانو شکریه هُم کوم چې مغوی مونږ پهٔ خپل تعاون ونمانځلو او مونږ سره ئې پهٔ دې لړ کښې دَ زړهٔ لهٔ کومی هر قسمه لاس امداد وکړو-

دَ دې نه علاوه زما دَ شکریې مستحق زما رفیق کار او دَ بورډ ممبر پروفېسر محمد امین سُم دے چا چې دَ دې لُغت پهٔ سر ته رسولو کښې دَ

www.pukhto.net

بې کچه تندۍ نه کار واخستو او هُم دَ دهٔ پهٔ نګرانۍ کښې دَ طباعت ټولې مرحلې اسانۍ سره تکمیل ته ورسېدې-

پهٔ اخر کښې زهٔ دَ لغت دَ روح روان پروفېسر قلندر مومند او شاغلی فرید صحرائی دَ ډېرې خوارۍ او دلچسپۍ ډېره مننه کوم چې دَ هغوی دَ محنت او پښتو ژبې سره د بې کچه مینې لهٔ کبله یو نوموړے تاریخي کار پهٔ ډېره تندۍ سره سر ته ورسېدو-

زما دعا ده چې الله تعالٰی دې دَ دې نېک کار بدله دغه واړو کسانو ته ورکړی چا چې پهٔ دې کار کړے دے او یا ئې دَ دې سره پهٔ تړلی کشالو اوارولو کښې لاس امداد کړے دے- (امین)-

پروفېسر سیّد جعفر حیات
چیئرمېن سرحد ټېکسټ بک بورډ پېښور

www.pukhto.net

ا:(اَلِف)حرف- دَ پښتو ژبې دَ حروف تهجي وړومبے حرف چې دَ ابجد لهٔ حسابه ئې قیمت یو دے-

آ:(آ)حرف- پهٔ راکښلي آواز وئیلے شي- دَ درد پهٔ زیاتي- حیرانتیا، افسوس، نورې یا دَ اروهي پهٔ وخت لهٔ خلې وتونکے آواز- (۲)کله کله لږ ډیر دَ چغې پهٔ شان آواز- (۳)دَ ځنو صدرغاړو دَ سُر سمولو دَ پاره آواز- (۴)دَ کونترې یا چرګې دَ رابللو کلمه- (۵)دَ وړو ماشومانو دَ خبرو زده کولو پهٔ وخت دَ وړومبي مرحلې آواز-

آب:(آب)اسم- جمع- مذکر- (۱)اوبهٔ- خوله- اوښې- عرق- (۲)شراب- (۳)عزت- حیا- قدر- (۴)خلق(م- فارسي)-

أبا:(أبا)اسم- واحد- مذکر- (۱)پلار- پلار ته دَ خطاب توری- اباجان- جمع اباګان-، مؤنث ابی- (۲)نیکهٔ (۳)مشر- سپین ږیرے (ش- هندی- فارسي)-

أبابیل:(أبا-بیل)اسم- واحد/جمع- مذکر- یو قسم مارغهٔ چې پهٔ حقله ئې دا خبره مشهوره ده چې باران غواړي- توتکوکے- توتاکوکے- خرکوکے- سینکی- سیتی- (م- عربي)-

اباخیل:(أبا-خیل)اسم- جمع- مذکر- دَ پلار لهٔ طرفه خپلوان-

آباد:(آ-باد)صفت- واحد- مذکر- (۱)دَ وران ضد- ودان (۲)اُسېدونکے- (۳)صاحبِ مال و اولاد- (۴)هغه کال چې بارانونه پکښې ډیر وی او فصل ښهٔ وشي (ش- فارسي)-

اباد:(اُباد)صفت- واحد- مذکر وګورئ: آباد (ش- فارسي)-

ابادول:(اُبا-دِ-ول)مصدر متعدی- (۱)اُسول- میشته کول- (۲)جوړول-

ابادون:(اُبا-دِ-ون)حاصل مصدر- وګورئ: ابادول-

ابادونکے:(اُبا-دِ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ابادونکي- مؤنث ابادونکې- وګورئ: ابادول-

ابادونګ:(اُبا-دِ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ: ابادول-

ابادونه:(اُبا-دِ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ: ابادول-

اباده ابادی:(اُبا-دِه-اُبا-دي)صفت- ودانې- سوکالي- خوشحالي- (دَ اباده او ابادي مرکب)- (ش- فارسي)-

ابادی:(اُ-با-دي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کلے- بانډه (۲)دَ سړو شمېر- (۳)ښېرازي- سوکالي (۴)کډه کوډه- جمع ابادۍ/ابادیانې- (ش- فارسي)-

اباديدل:(اُبا-دي-دَل)مصدر لازم (۱)اُسېدل- میشته کېدل- استوګه اختیارول (۲)جوړېدل- ودانېدل- (۳)ښېرازه کېدل-

ابادیدن:(اُبا-دي-دن)حاصل مصدر- وګورئ: اباديدل-

اباديدونکے(اُبا-دي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اباديدونکي- مؤنث اباديدونکې- وګورئ: اباديدل-

اباديدنګ:(اُبا-دي-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ: اباديدل-

اباديدنه:(اُبا-دي-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ: اباديدل-

اباديدهٔ:(اُبا-دي-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ: اباديدل-

اباسک:(اَبا-سک)اسم- واحد/ جمع- مذکر- یو قسم بوټے چې میېنځ ئې دَ الو پهٔ شان وی-

اباسین:(اَبا-سین)اسم-واحد- مذکر- وګورئ: اباسیند-

اباسیند:(اَبا-سیند)اسم- واحد- مذکر- دَ سیندونو پلار- دَ پښتنو دَ علاقې یو لوئ سیند چې دَ پښتنو دَ زوړ تاریخ سره ډیر ژور تعلق لری- اباسین-

اباسی:(اَبا-سي)اسم- واحد/جمع- مؤنث (۱)اسوېلے- (۲)باسي- خُله بګی- (م- هندی- لباسی)-

اباګني:(ابا-ګه-ني)اسم- واحد/جمع- مؤنث- پلارګنی- دَ جینۍ دَ پلار کور- (ش- فارسي)-

ابال:(اَبال)اسم- وګورئ: وبال-

ابالغالی:(اَبال-غا-لي)اسم صفت- واحد- مذکر وبالی- ابالی- کرم- جمع ابالغالیان-

ابالی:(ا-با-لي)اسم صفت- واحد- مذکر- وبالی- کرم- ابالغالی-

ابانهٔ:(ا-با-نهٔ)اسم- پرمول-

اباراجداد:(أبا-و-أج-داد)اسم- جمع- مذکر- پلارونه- دَ پیړی مشران- واحد اب او جد- (م- عربي)-

اباني:(ا-با-ني)اسم صفت- واحد/جمع- مذکر- پلار نیکهٔ سره متعلق- (ش- فارسي)-

ابپاشی:(اب-پا-شي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دَ پټي، فصل یا باغ أبه کونه- پټو ته دَ أبو ورکولو کار- أبهٔ خور (ش- فارسي)-

ابتدا:(اب-تِ-دا)اسم (عربي کښې فعل)- واحد- مؤنث- اول سر- شروع- بنیاد- آغاز- (م- عربي)-

ابتدائی:(اب-تِ-دا-ئي)اسم صفت (۱)ابتدا سره تعلق لرونکے/ لرونکې- (۲)اولنے-

ابتر:(اَب-تَر)اسم صفت- واحد- مذکر (۱)اُوتر- پرېشان- ګډوډ- (۲)میراث- بې خویه- (۳)غریب- خوار- (۴)ناقص- خراب- بې خونده- بې کاره- (کول/کېدل ترکیبي مصدرونه)- (م- عربي)-

ابتری:(اَب-تَ-ري)اسم- واحد- مؤنث- (۱)اُوتری- پرېشاني- (۲)غریبي- خواری- (۳)خرابي- بې خوندي- بېکاری-

ابتل:(اَب-تل)اسم- واحد- مؤنث- پوب ماکو- ابهوب- جمع ابتلان-

ابتلا:(اب-تِ-لا)اسم- واحد- مؤنث- ازمېښت- جمع ابتلاګانې- (م- عربي)-

ابته:(اَ-بِه-تَه)اسم صفت- عبث- حبطه- فضول- بې ځایه- بې فائدې- ګنده- خراب- لړلے- پلیت- بې کاره- (م- عربي حبطه)- (کول/کېدل مصدرونه)-

ابج:(ا-بج)اسم صفت- چې بج کېدل ترې ممکن نهٔ وی- چې ځان ساتل ترې ناممکن وی- مؤنث ابجه- (م- هندی ابج)-

ابجد:(اَب-جَد)اسم واحد/جمع- مذکر- دَ عربي دَ حروف تهجي ښکاره کونکی اتهٔ لفظونه- چې پهٔ ابجد- هوز- حطي- کلمن- سعفص- قرشت- ثخذ- ضظغ مشتمل دی او هر توري ئې ځانله عددي قیمت لری- (م- عربي

www.pukhto.net

عبراني- په عبراني کښې څخه لو ضطع نه وی)-

ابجه:(ا-بهٔ-جه)اسم- واحد- مؤنث- دٔ ابج مؤنث- وګورئ ابج (م- هندی)-

ابـجـی:(اَب-جی) اسـم- واحد- مذکر- (۱)ابهٔ ورکـونکـے- مصل تـه ابـه ورکونکے- (۲)جمع ابجیان- مؤنث ابجی- جمع مؤنث ابجیانی/ابجیانې- وسله دار- په وسله پوړ (م- وروستي معنٰی کښې پښتو دویمه کښې هندی)-

ابحاث:(اب-حاث)اسم- جمع- مذکر- د بحث جمع- (۱)کښتنه- (۲)جاج اخستنه- سنجونه- (۳)مباحثه- سوال ځواب- واحد بحث (م- عربي)

آب حیات:(آب-حه-یات)اسم- واحد/جمع- مذکر- دٔ ژوند ابهٔ- هغه فرضی ابهٔ چې دٔ هغې په څښلو عمری ژوند حاصلیږی (م- فارسی)

آب خانه:(آب-خا-نه)اسم-واحد-مؤنث- (۱)غسلخانه (۲)دٔ ژرندي لاندي ځاۍ- چرته چې څرخ اېښودے شوے وی- (م- فارسی آب- ابهٔ- خانه- کور)-

ابد:(اَ-بَد)اسم- واحد- مذکر- (۱)تل تر تله- نهٔ ختمېدونکے وخت- همېشه دٔ راتلونکی وخت همېشګی- (۲)روزګار-

ابدأ:(اَ-به-دن)متعلق فعل- همېشه- ترابده-ابداً-

ابدا:(اَ-به-دا)متعلق فعل- وګورئ ابدأ-

آبدار:(آب-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)مخور- (۲)ښاغلے- (۳)دٔ عزّت خاوند (۴)ځلېدونکے- (۵)جوهر لرونکے- (۶)اَبرن- (۷)لوند- (۸)تاند- (۹)غور- مؤنث آبداره-

آبدارول:(آب-دا-ره-ول)مصدر متعدی- آبدار جوړول- وګورئ آبدار-

آبدارون:(آب-دا-ره-ون)حاصل مصدر دٔ آبدارول- وګورئ آبدار-

ابدارونکے:(آب-دا-ره-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- آبدار جوړونکے- وګورئ آبدار-

ابدارونګ:(آب-دا-ره-ونګ)حاصل مصدر دٔ ابدارول- وګورئ ابدار-

ابدارونه:(آب-دا-ره-وَ-نه)حاصل مصدر د ابدارول- وګورئ ابدار-

ابداره:(آب-دا-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وینځلي غوښه- (۲)دٔ ابدار مؤنث- جمع ابداری-

آبداری:(آب-دا-ری)صفت- دٔ مخوریز کېدو حالت (ش- فارسی آب- ابه دار- لرونکے)-

ابدارېدل:(اب-دا-ري-دَل)مصدر لازم- آبدار جوړېدل- وګورئ آبدار-

ابدارېدن:(اَب-دا-ري-دَن)حاصل مصدر- وګورئ آمدار-

ابدارېدنګ:(اب-دا-ري-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ آبدار-

ابدارېدنه:(اب-دا-ري-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ آبدار-

ابدارېدونکے:(اب-دا-ری-دُون-کے)اسم مفعول- واحد- مذکر- ابدار جوړېدونکے- وګورئ آمدار-

ابدارېدهٔ:(اب-دا-ري-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ آبدار-

ابدال:(اَب-دال)اسم- واحد/جمع- مذکر- (۱)بُزرګ یا نېک سړے- (۲)دٔ بزرګانو یو خاص ټولے-

آبدان:(آب-دان)اسم- واحد- مذکر- لودان- دٔ اَبو ساتلو دٔ پاره یو پول فلزی لوښے- (افغانستان)- جمع ابدانونه- (م- فارسی- آب- اَبه- دان- ظرف)-

ابدان:(اَب-دان)اسم- جمع- مذکر- دٔ بدن جمع- جسمونه- واحد بدن- (م- عربی)-

ابېنوی:(اب-بېن-وی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- ګلی پنړی- دٔ ملګانو یو قسم لوبه-

ابدور:(اب-دور)اسم صفت- بې ځایه- بې واکه-

ابدی:(اَ-به-دی)صفت- ابد سره متعلق- (م- عربی اَبد)-

ابدیت:(اَ-بَه-دی-یَت)اسم- وګورئ اَبد- (م- عربی اَبد)-

ابدوب:(اب-دُوب)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ابتل-

ابر:(اَ-بر)اسم- واحد- مذکر- وریځ- اُوره- (م- فارسی)-

ابرا:(اب-را)اسم- مؤنث- تېرېدنه- بخښنه- عفوه-

ابرا:(اب-را)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ابره-

ابرات:(اب-رات)اسم- واحد- مذکر- (۱)برخه- حصّه- (۲)لیک- تحریر- تمسک- (۳)اقرارنامه- ضمانت- (۴)برات- دٔ سرکار له لوری دٔ پېسو وصولی- سند- (۵)ماجب- هغه سرکاری سالانه انعام چې قبائیلو له پاره مقرر وی-

ابرار:(اب-رار)اسم صفت- (۱)پاک- پاکیزه- (۲)فرض شناس-(۳- اسم)انصاف کونه- (۴)کښېنه- (۵)دٔ ربنتیاۍ مطابق قسم خوړنه- (۶)صحرا کښې سفر کونه- (۷)غالب کېدنه- (م- عربی)-

ابرش:(اَب-رَش)اسم صفت- واحد- مذکر- دٔ سُور رنګ اَس چې سپین والے هم پکښې وی- چینے اَس- (ش- فارسی)-

ابرص:(اَب-رَص)اسم صفت- برګے- برصي- هغه سړے چې برص پرې لګېدلے وی- (م- عربی)-

ابرک:(اَب-رک)اسم- واحد- مذکر- دٔ شګې ګُل- سپلکه- رنوکے- رنګے- سپینه پرویزه تیره- پڼی- (م- عربی ابرق)-

ابـرو:(اَب-رُو)اسم- (۱)وروځې- (۲)عزت- حیا- شرم- (اخستل/ساتل- مصدرونه ترکیبی)- (م- فارسی)-

آبرو:(آب-رُو)اسم- واحد- مذکر- (۱)ورخ- (۲)بغول- (۳)دٔ اَبو دٔ تېرېدلو موری- (مرکّب)-

ابروتی:(اَب-رُو-تی)اسم- واحد- مؤنث-ابرو- شرم- حیا-

ابره:(اب-ره)اسم- واحد- مؤنث-(۱)دٔ زمکې حاصلات- (۲)دٔ هر څیز محصول- (۳)هغه زمکه چې کال په کال وار په وار کرلے شی- (۴)ګټه، سود، فائده- جمع ابرې-

ابره:(اَب-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دٔ اَستر ضد- (۲)دٔ غیرګې کپړې پورتنے مخ- (۳)غلاف- (۴)دٔ کپړې یو قسم- جمع اَبرې (ش- فارسی)-

ابره:(اب-ره)اسم- واحد- مؤنث- یقین- اعتماد- اعتبار-

www.pukhto.net

أبـره:(أبـره)اسـم- واحـد- مؤنـث- دُ غر ښارے- ښنخرے- توغندرے- (ش- فارسي)-

ابـره:(أبـره)اسـم- واحـد- مؤنـث- (۱)ستن- (۲)هغه وروکي کرښه چي په تنقيط کښي دُ جمله معترضه دُ بښېلو دُ پاره راځي- جمع ابري-

ابره وره:(ابـرهـوهٔـره)اسم- واحـد- مؤنث- هغه زمکه چي پېره غله وركوي- زرخېزه زمكه- لېښتې- زرنكي-

ابـرى:(أبـرى)اسم- واحـد- مذكر- (۱)په دېوالونو دُ ګلکارانو دُ لاسه شوى هغه غېر منظمه ګلکارى چي پېر رنګونه پکښي شامل وي- (۲)دُ کتابونو وغېره په جلدونو کښي استعمالېدونکے نرے کاغذ-

ابرى توره:(أبـرى-تـوـره)اسم- واحـد- مؤنـث- دُ توري يو قسم- جمع ابرى توري-

ابرېښم:(أبـري-ښـم)اسم- واحـد- مذكر- دُ ورېښمو دُ چينجى غلاف- كچه ورېښم- دُ ورېښمو مزے- وګورئ ورېښم-

أبـرن (أبـرن)اسم صفت- واحد/جمع- مذكر- وګورئ ابړن-

أبـرى:(أبـرى)اسم صفت- واحد/جمع- مؤنث- (۱)أبو كښي شنه سلېښناكه جالى- (۲)ډېر نرم او خوږين څيز-

آبِ زمزم:(آبـزمـزم)اسم- مؤنـث- دُ زمزمو اُبهٔ- په مكه معظمه كښي يوه خاصه چينه چي دُ حضرت اسماعيل عليه السلام په خاطر څرګنده شوي وه-

ابزن:(أبـزن)اسم صفت- واحد/جمع- مذكر- وګورئ ابړن-

ابزه:(أبـزه)اسم- واحد- مؤنث- صراحى- كوزه (متروك) جمع ابزي-

ابرے:(أبـزے)اسم- واحد- مذكر- وګورئ بزه- هغه چينجے چي كېره خوري-

ابړن:(أبـړن)اسم صفت- واحد/جمع- مذكر- أبلن- چړوبن- چړچوبن- زېم ژن- زولن-

ابس:(أبس)اسمِ صفت- واحد/جمع- مذكر- (۱)فضول- (۲)بېكاره- دُ عبث مفتٌ-

ابس ونډى:(ابـس-ون-ډى)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دُ ملكانو يوه لوبه- ابس ونډي- ونډا ګلي-

أبشار:(أبـشار)اسم- واحد- مذكر- هغه ځاے چي هلته لهٔ غرهٔ يا بل وچت ځاے نه اُبهٔ بښكته را غورځيږي- كرونګه- زاوو- جړوبے- پارچاوے- جمع ابشارونه-

ابغول:(ابـغـول)مصدر متعدى- دُ چا بي شرمى كول او ور ته سټغي خبري كول- سپكاوے كول-

ابغون:(ابـغـون)حاصل مصدر- وګورئ ابغول-

ابغونكے:(ابـغـوون-كے)اسم فاعل- واحد- مذكر- جمع ابغونكي- مؤنث ابغونكي- وګورئ ابغول-

ابغونګ:(ابـغـونګ)حاصل مصدر- وګورئ ابغول-

ابغونه:(ابـغـوـنه)حاصل مصدر- وګورئ ابغول-

ابغوهٔ:(ابـغـوهٔ)حاصل مصدر- وګورئ ابغول-

ابغېدل:(ابـغې-دل)مصدر لازم- دَ چا بي شرمى كېدل- سپكاوے كېدل-

ابغېدن:(ابـغې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ابغېدل-

ابغېدنګ:(ابـغې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ابغېدل-

ابغېدنه:(ابـغې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ ابغېدل-

ابغېدونكے:(ابـغې-دون-كے)اسم فاعل- واحد- مذكر- جمع ابغېدونكي- مؤنث ابغېدونكي- وګورئ ابغېدل-

ابغېدهٔ:(ابـغې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ ابغېدل-

ابك:(ابك)اسم- واحد- مذكر- دُ ابا نه اسم تصغير- دُ مېني تورے-

ابكه:(ابـكه)اسم- واحد- مؤنث- دُ پلار ښځه- مور-

آبكير:(آبـكير)اسم- واحد- مذكر- (۱)تالاؤ- هغه ځاے چي اُبهٔ پكښي ولاړې وي- (۲)دُ جولاګانو يوه آله چي په هغي په غوړېدلي تنسته اُبهٔ څڅكاوري-

ابل:(ابل)اسم صفت- مذكر- لوڅ- بربنډ- عموماً پښي سره استعمالېږى لكه پښي ابل-

ابل:(ابل)اسم صفت- واحد- مذكر- بي وسه- بي طاقته- خوار- كمزورے-

ابلا:(ابـلا)اسم صفت- واحد- مؤنث- نازك اندامه ښځه- (م- ابلا هندى)-

ابلاغ:(ابـلاغ)اسم- پېغام وغېره رسونه- (م- عربى- بلغ)-

ابلق:(ابـلق)اسم صفت- واحد- مذكر- (۱)تور او سپين- (۲)څڅر- (۲)منافق- مؤنث ابلقه- (م- عربى)-

أبلن:(أبـلن)اسم صفت- واحد/جمع- مذكر- اُبهٔ لړزونكے- اُبړن- نعدار- مؤنث ابلنه- خوږن-

ابلنول:(ابـلـنـول)مصدر متعدى- خوږينول- نمداره كول- ابړنول-

ابلنون:(أبـلـنـون)حاصل مصدر- وګورئ أبلنول-

ابلنونكے:(أبـلـنـوون-كے)اسم فاعل- واحد- مذكر- جمع ابلنونكي- مؤنث ابلونكي- وګورئ أبلنول-

ابلنونګ:(أبـلـنـونګ)حاصل مصدر- وګورئ ابلنول-

ابلنونه:(أبـلـنـوـنه)حاصل مصدر- وګورئ ابلنول-

ابلنېدل:(أبـلـنې-دل)مصدر لازم- خوږينېدل- نمداره كېدل- ابړنېدل-

ابلنېدن:(أبـلـنې-دن)حاصل مصدر- وګورئ أبلنېدل-

ابلنېدنګ:(ابـلـنې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ابلنېدل-

ابلنېدنه:(ابـلـنې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ ابلنېدل-

ابلنېدونكے:(ابـلـنې-دون-كے)اسم فاعل- واحد- مذكر- جمع ابلنېدونكي- مؤنث ابلنېدونكي- وګورئ ابلن-

ابلنېدهٔ:(أبـلـنې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ أبلنېدل-

ابلوغ:(ابـلوغ)اسم صفت- واحد- مذكر- خلموټے- بلوغت ته نژدې- مؤنث ابلوغه-

ابلوغېدل:(ابـلوـغې-دل)مصدر لازم- خلمے كېدل- بالغ كېدل- بالغېدل-

ابلوغېدن:(أبـلوـغې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ابلوغېدل-

ابلوغېدنګ:(أبـلوـغې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ابلوغېدل-

www.pukhto.net

ابلوښېدنه:(اب-لو-ښې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ابلوښېدل-

ابلوښېدونکے:(اب-لو-ښې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ابلوښېدونکي- مؤنث ابلوښېدونکې- وګورئ ابلوښېدل-

ابلوښېدۀ:(اب-لو-ښې-دۀ)حاصل مصدر- وګورئ ابلوښېدل-

ابلیس:(اب-لیس)اسم- واحد- مذکر- (۱)شېطان- هغه جن چې حضرت آدم علیه السلام ته یې د سجدې کولو نه انکار کړے وۀ- (۲ صفت)- شرارتي- وران کارے- (م- عربي)-

ابلې:(اَب-لې)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)دارتې خلې کوړے- (۲)کاښېزه زمکه- اوی-

ابنائے:(اَب-نا-ئے)اسم- واحد- مؤنث- جغرافیائي اصطلاح کښې ، هر هغه ځائ چې دوه وچې سره جدا کوي- (م- فارسي)-

ابنوس:(اب-نوس)اسم- واحد جمع- مذکر- د تور رنګ یو عمارتي لرګے او د هغۀ ونه- (م- فارسي- اب- اُنۀ- نوش- ګټېل)-

ابو:(اَبو)اسم- جمع- مؤنث- د ابۀ مغیره شکل-

ابواب:(اَب-واب)اسم- جمع- مذکر- د باب جمع- (۱)دروازې- (۲)د کتاب یا مضمون برخې(م- عربي- باب- دروازه)-

ابوالبشر:(اَب-بل-بَه-شر)اسم- واحد- مذکر- د انسان پلار- د حضرت آدم علیه السلام کنیت- (م- عربي)-

ابوالقاسم:(اب-بل-قا-سم)اسم- واحد- مذکر- د قاسم پلار- د رسول کریم صلی الله علیه و سلم کنیت- چې د مشر ځوئ پاک نوم یې قاسم وۀ- (م- عربي)-

ابوبکر:(اَبو-بکر)اسم- واحد- مذکر- (۱)د رسول کریم صلی الله علیه و سلم ړومبے خلیفه- (۲)یار غار او ړومبے مسلمان- (م- عربي- ابو-بکر)-

آب و تاب:(آ-بو-تاب)اسم متعلق فعل- بړک پړوک- شان و شوکت- (م- فارسي- آب- پړک- تاب- خلا)-

ابوتلے:(ابو-تَه-لے)اسم صفت- پوره- بول- بشپړ- د خوراکي ګېزونو د پاره استعمالېدونکې کلمه- (افغانستان)-

ابوس:(ابوس)اسم- واحد- مذکر- د توپچي یو قسم وسله- (افغانستان)-

ابو:(ا-بو)اسم- وګورئ ابۀ-

ابوتنې:(اَبو-تَه-نې)اسم- واحد جمع- مؤنث- مهې خوړک- یوه مرغۍ چې غوښه یې ډېره خوندناکه وي-

ابوتراب:(اَبو-تُه-راب)اسم- واحد- مذکر- د خاورې پلار- د حضرت علی رضی الله تعالی عنه کنیت- (م- عربي)-

ابوجهل:(ابو-جهل)اسم- واحد- مذکر- د ابوجهل مغفّن شکل- د عمرو بن هشام کنیت- (۲ صفت)- ضدي او نا منونکے سړے-

ابوحنیفه:(ا-بو-حه-ني-فه)اسم- واحد- مذکر- د حنفي فقهې امام چې امام اعظم یې لقب دے- (م- عربي)-

آب و دانه:(آ-بو-دا-نه)اسم مرکب- أبه خوراک- روزي- رزق- (م- فارسي)-

اَبوارړے:(اَبو-را-وُه-ړے)اسم- واحد- مذکر- مفت په لاس راغلے- ساه لرونکے شے- بې قیمته شے-

ابوسه:(ابو-سه)اسم صفت- واحد- مؤنث- ریمناکه زمکه- نوژنه زمکه- بوره زمکه- جبه- جمع اَبوسې-

ابول:(ا-به-ول)مصدر متعدي- خړوبول- ابۀ ورکول-

ابون:(اَ-به-ون)حاصل مصدر- وګورئ اَبول-

ابونکے:(اَ-به-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ابونکي- مؤنث ابونکې- وګورئ اَبول-

ابونګ:(اَ-به-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ اَبول-

ابونه:(ا-به-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ابول-

ابوړے:(اَبو-وُه-ړے)اسم- واحد- مذکر- هغه کس یا څیز چې اَبوخان سره وړے وي- (۲ اسم)- ابوښے-

ابوهریره:(اَبو-هو-ري-ره)اسم- واحد- مذکر- د رسول کریم صلی الله علیه و سلم د مشهور صحابي کنیت-

اب و هوا:(ابو-هه-وا)اسم مرکب- جمع- مؤنث- موسم- د یو ملک طبعي حالت- (م- فارسي- آب- ابۀ- هوا- باد)-

ابوښے:(اَب-وي-ښے)اسم- واحد- مذکر- میراب- پټسالې- اَبوړے- د اَبو څوکیدار چې د ماکو خیال ساتي چې د یوې ناکې اَبۀ په بل ورځ کښې لاړې نۀ شي-

اَبه:(ا-به)اسم- واحد- مؤنث- دېکه- درکه- جمع ابې-

ابه تره:(ا-به-تَ-ره)اسم صفت- ورړکې ورکې توټې- ذره ذره- بسمې بسمې- ریح مریح-

ابه وبه:(ا-به-و-به)اسم- واحد- مؤنث- سالندې- د ساېو مرض-

اَبۀ:(ا-بۀ)اسم- جمع- مؤنث- (۱)د هائیدروجن او آکسیجن کېمیائي مرکب چې دوه حصې یکښې هائیدروجن او یوه حصه آکسیجن وي- (۲)بې رنګه، بې مزې او بې بویه سیال چې د څښلو، وینځلو او د داسې مقصدونو د پاره استعمالیږي- (۳)هر نرے سیال څیز- ابو- اَبو- (ش- فارسي اب)-

ابهام:(اب-هام)اسم- (۱)میلل یا تحریر کښې عدم وضاحت- (۲)په شاعرۍ کښې د یو صنعت نوم- (م- عربي ابهام)-

ابۀ تله:(اَبۀ-تَه-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د اَبو تله- (۲)د زمکې د اړوالي د پېژندلو آله- جمع ابۀ تلې-

ابۀ چیلم:(اَبۀ-چي-لم)اسم مرکب- کپ شپ- نلستے پلستے- دمه- میلستیا- خاطر تواضع-

ابۀ خور:(اَبۀ-خور)اسم- واحد- مذکر- د کر د زمکې اَبۀ کونه- پنه کونه-

ابۀ خوره:(اَبۀ-خو-ره)اسم- واحد- مؤنث- ترسنده- نوسنده- هغه زمکه چې ډېرې ابۀ خوري- کومه زمکه چې ډېرې ابۀ څښي یا راکاږي- بوره-

ابۀ دانه:(اَبۀ-دا-نه)اسم- واحد جمع- مؤنث- د ساتلو شوو مرغیو خوراک څښاک-

زبر"(ح-یـۀ-ره)، "زورکے"(شل)، "پېش"(مَو-کا-ره)، زیر (ک-تاب)، جزم"(شکور)، ه (ر-ره) ۀ (بو-سې-دۀ)

www.pukhto.net

اښه کول:(اـښهـکهـول)مصدر مرکبی- اښه ورکول-

اښه برمېدل:(اـښهـبرـمېـدل)مصدر ترکیبی- جریان کېدل-

اښه وارے:(اـښهـواـرے)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه سړے چې اښه لري-

اښه ور:(اـښهـور)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)خروب- (۲)پئه- (۳)اښه شوے-

(۴)مرسالے- (۵)مراد ته رسېدلے- (۶)هدف ته رسېدلے- (۷)مطلب ته رسېدلے-

ابی:(ابی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وګورئ آوی- (۲)شین رنګ (دیو معنو کښې اسم صفت)-

ابیات:(اب‌یات)اسم- جمع- مذکر- د بیت جمع- کوروونه- خونې- (۲)شعرونه- سندرې بدلې- اشعار- (م- عربی)-

ابیاری:(آب‌یاری)اسم- واحد جمع- مؤنث- اښه خورکونه- فصلونو ته اښه رکونه- (م- فارسی)-

ابیانه:(اب‌یانه)اسم- واحد- مؤنث- د ابو ټېکس-

ابېدل:(أبېدل)مصدر لازم- اښه کېدل- خروبېدل- اښه ورکېدل-

ابېدن:(أبېدن)حاصل مصدر- وګورئ ابېدل-

ابېدنګ:(أبېدنګ)حاصل مصدر- وګورئ ابېدل-

ابېدنه:(أبېدنه)حاصل مصدر- وګورئ ابېدل-

ابېدونکے:(أبېدونکے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ابېدونکي- مؤنث ابېدونکې- وګورئ ابېدل-

ابېده:(أبېده)حاصل مصدر- وګورئ ابېدل-

ابیر:(ابیر)اسم- واحد- مذکر- (۱)یو قسم خوشبویه دارو- (۲)خوشبوئي- (م- عربی- عبیر)-

ابیور:(اب‌یور)اسم صفت- واحد- مذکر- تېز تلونکے خاروے- مؤنث ابیوره- جمع ابیوري-

ابیه:(ابی‌یه)اسم صفت- د اس داسې تګ چې هغه پکښې یو خوا دواړه پښې د بل خوا دواړو پښو سره وار په وار وچتوي-

ابی:(ابی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مور- مور ته د خطاب کلمه- (۲)مشرې ښځې ته د دربناری توري-

ابی توب:(ابی‌توب)اسم- موروالے-

ابی غارے:(ابی‌غارے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)د مور له غاړې- (۲)د مور سره مینه کونکے- بې بې غاړے- د حقارت کلمه-

ابیے:(أبیے)صفت- واحد- مذکر- اښه را وړونکے-

اپ:(اپ)اسم- وګورئ عپ-

اپ:(اپ)اسم صفت- واحد- مذکر- د عفو معفن- معاف- مؤنث اپه- (م- عربی- عفوه)-

اپاوی:(اپاوی)اسم- بد غوروی- چټی ویناء- عبث ویناء- بې فائدې خبرې- (ترهات)-

اپاوے:(اپاوے)اسم صفت- واحد- مذکر- ګوی خر- نادان- ناپوهه-

اپ دپ:(اپ‌دپ)اسم- واحد- مذکر- کوشش- منډه ترړه-

اپرا:(اپرا)اسم صفت- (۱)غټ- (۲)مضبوط- (۳)پیړ- (۴)پرېړ- (۵- اسم) د یو دېو قوم- اپراد-

اپراد:(اپراد)اسم- واحد- مذکر- د یو انسانوی دېو قوم چې ځنې لغتونو د اپرا په نوم اخستے دے-

اپرېشن:(اپرېشن)اسم- واحد- مذکر- د جراحي عمل- (م- انګریزي اپرېشن)-

اپرېل:(اپ‌رېل)اسم- واحد- مذکر- (۱)د عیسوی کال ځلورمه میاشت- (۲)د تاش په ځنو لوبو کښې د ځلورو یا درېو واړو رنګونو د یو شان پاڼو مجموعه-

اپره:(اپره)اسم- واحد- مؤنث- د شنې اپره- د شنې پښې-

اپره:(اپره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ اپره دوپره- جمع اپرې-

اپره دپره:(اپره‌دپره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ اپره دوپره-

اپره دوپره:(أپره‌دوپره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)فضول خبرې- (۲)لافې- (۳)اپره دپره- جمع اپرې دوپرې-

اپریت چپریت:(اپ‌ریت‌چپ‌ریت)اسم صفت- چیت شوے- چپ-

اپس پندی:(أپس‌پن‌دی)اسم- واحد جمع- مؤنث- کلی پنډه- اپس پندی د ماشومانو یوه لوبه-

اپلات:(أپ‌لات)اسم صفت- واحد- مذکر- اپلاتند- اپلت- اپلیت- کنځل مار- پوچ خلے- مؤنث اپلاته/اپلاتنه- جمع اپلاتي-

اپلاتند:(اپ‌لاتند)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ اپلات-

اپلاته:(اپ‌لاته)اسم صفت- واحد- مؤنث- کنځل ماره- پوچ خلې- جمع اپلاتي-

اپلاتي:(أپ‌لاتي)اسم- جمع- مؤنث- پوچ وینا- سپکه خله خوزونه- اپلتې-

اپلت:(اپ‌لت)اسم- واحد- مذکر- وګورئ اپلات-

اپلتي:(اپ‌لتي)اسم- جمع- مؤنث- بدرد- کنځل- پوچه وینا- سپکه خله خوزونه- اپلتې غپلتې- اپلاتې-

اپلتي غپلتي:(اپ‌لتي‌غپ‌لتي)اسم- جمع- مؤنث- پوچه وینا- ګډې وډې خبرې- سپکې خبرې- بې فائدې خبرې- اپلتې- اپلاتې-

اپل:(أپل)مصدر- وګورئ اپول-

اپلو:(أپلو)اسم اشاره- د هغه پلویو شکل- هغه خوا- اخوا- هغې طرف ته- اپله-

اپله:(اپله)اسم اشاره- د هغه پله یو شکل- هغې پلوته- هغې طرف ته- هغې مخې ته- هغې خوا ته- هغه اړخ ته- اپلو-

اپلیت:(اپ‌لیت)اسم- وګورئ اپلات-

اپن:(اپن)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)نا تجربه کار- (۲)اواره ګرد-

اپوټ سپوټ:(أپوټ‌سپوټ)اسم صفت- واحد- مذکر- اړولے- پرمخ- مؤنث- اپوټه سپوټه- (ش- پنجابی- پټها)-

ت: (ټی-رل)، ټ: (ټي-ره-ول)، ډ: (ډیا-لی)، ځ: (ځن-دمر) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

اپوټه:(اَ-پو-ټه)اسم صفت- اړولے- په بل مخ- پرمخ- (۲)چپه- کلبه- سرګردان- خوار- زهلے- (ش- پنجابی- پټها)-

اپول:(اَ-په-وَل)مصدر متعدی- اپل- غپول- غپول- مې کول- روغ تېرول-

اپون:(اَ-په-وَن)حاصل مصدر- وګورئ اپول-

اپونګ:(اَ-په-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ اپول-

اپونه:(اَ-په-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ اپول-

اپونکے:(اَ-په-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اپونکی- مؤنث اپونکې- وګورئ اپول-

اپه:(اَ-په)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ هپه-

اپه تړپه:(اَ-په-تړ-په)اسم- واحد- مؤنث- کوشش منډه تړره- لپه دپه- هپه دپه- جمع اپی تړپې-

اپه دپه:(اَ-په-د-په)اسم- واحد- مؤنث- دوړه دپکه- چل ول- وګورئ اپه تړپه-

اپه دپه:(اَ-په-د-په)اسم صفت- (۱)ننه دننه- (۲)ورک- پټ- پټ-

اپی:(اَ-پی)اسم- واحد- مؤنث- کیدړه چې وار ئې راوړے وی- (۲)بوره- جمع اپیانې-

اپیل:(اَ-پیل)اسم- واحد- مذکر- د وړوکی حاکم د فیصلې د منسوخولو د پاره لوئ حاکم ته درخواست- (م- انګریزی)-

اپیم:(اَ-پیم)اسم- جمع- مذکر- یو نشه راوستونکے ګیز چې د خشخاشو له پوټی حاصلیږی- افیم-

اپیم چی:(اَ-پیم-چی)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ اپیمی- جمع اپیم چیان-

اپیم خور:(اَ-پیم-خور)اسم صفت- واحد- مذکر- اپیمی- اپیم خوړونکے- اپیم چی- عملی- مؤنث اپیم خوره- جمع اپیم خواره-

اپیمی:(اَ-پی-می)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ اپیم خور-

اپېدل:(اَ-پې-دل)مصدر لازم- (۱)- بوړې آواز کول- (۲)غپېدل- شور زور کول-

اپېدن:(اَ-پې-دن)حاصل مصدر- وګورئ اپېدل-

اپېدنګ:(اَ-پې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ اپېدل-

اپېدنه:(اَ-پې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ اپېدل-

اپېدونکے:(اَ-پې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اپېدونکی- مؤنث اپېدونکې- وګورئ اپېدل-

اپېده:(اَ-پې-ده)حاصل مصدر- وګورئ اپېدل-

اپېل:(اَ-پې-ل)مصدر- لواړ تېرول- بوټے تېرول- تفړل-

اپېلے:(اَ-پې-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اپېلی- مؤنث اپېلې- وګورئ اپېل-

اپېلن:(اَ-پې-لن)حاصل مصدر- وګورئ اپېل-

اپېلنګ:(اَ-پې-لنګ)حاصل مصدر- وګورئ اپېل-

اپېلنه:(اَ-پې-لنه)حاصل مصدر- وګورئ اپېل-

اپېلونکے:(اَ-پې-لون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اپېلونکی- مؤنث اپېلونکې- وګورئ اپېل-

ات:(ات)مخفف- د ماشومانو په ژبه کښې د اې ستا مخفف-

ات:(ات)سابقه- مرکبو لفظونو کښې د اتا معنیٰ ورکونکې سابقه-

ات:(ات)لاحقه- (۱)چې د اسم آخر ته ورلګی نو جمع جوړه شی لکه خواهش نه خواهشات، احتیاج نه احتیاجات، اخبار نه اخبارات- (۲)عربی کښې د جمع مؤنث یوه علامه-

اُتاک:(اُ-تاک)اسم- واحد- مذکر- کمره- ځاۍ- جمع اُتاکونه- (فارسی- اطاق)-

اتام:(اتام)اسم- واحد- مذکر- خوراک- طعام- (۲)دوره- اوړه- (ش- عربی- طعام- پښتو- اتوم (اوړه) هندی- آټا)-

اتانیز:(اُ-تا-نیز)اسم- واحد- مذکر- د نیمې روپۍ سکه- ۵۰ پیسې-

اتبار:(ات-بار)اسم- واحد- مذکر- (۱)د اعتبار مقفّن- وګورئ اعتبار- (۲)د خالی او ګل تر مینځه ورځ- اتوار- (م- وروسنی معنیٰ کښې د عربی اعتبار او دویمه معنیٰ کښې د هندی ایت وار- (ایت- نمر- وار- ورځ-)

اتباری:(ات-با-ری)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- وګورئ اعتباری-

ات پریز:(ات-په-ریز)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه څیز چې اته پرې لری- د اتو اړخونو لرونکے- ات ګټیز- ات ځنډ-

اتځنډ:(ات-ځنډ)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ ات پریز-

اتحاد:(ات-تحاد)اسم-(۱)یو کېدنه- اتفاق- (۲)هغه موافقت او یو والے چې د مدافعت او حفاظت په غرض شوے وی-

اتحادی:(ات-تحا-دی)اسم صفت- (۱)اتحاد کونکے- (۲)هغه ملکونه چې دویم عالمی جنګ کښې جرمنی، اټلی او جاپان نه یو شوی وو-

اتر:(اَ-تر)اسم- واحد- مذکر- اندام- نوکے- د جسم مره یوه برخه- جمع اترونه-

اتر:(ا-تر)تابع مهمل- د خبر تابع مهمل- خبردار- اطلاع یافته-

اترک بترک:(اَتر-ک-بتر-ک)اسم صفت- واحد- مذکر- غریب- بې وسیلې- میراته- اوترک- خوار- بې وسه- لغړ- ځنولے- مؤنث اترکه بترکه- جمع مؤنث اترکې بترکې-

اترنګ:(اَتر-نګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)د یو بوټی نوم چې د جامو په رنګولو او دارو کښې پکارېږی- (۲)انګریزی (شاعرانه)- نباتاتی نوم ایس کلپیس- ایکی نلتها ASCHPIASHYDRINATA-

اتروشے:(اَتر-وشے)اسم- واحد- مذکر- اتهوشے- انتروشے- نړے- د پوزې سره مخصوص یو غیر ارادی حرکت چې هوا د پوزې نه را اوځی او یو آواز پیدا کوی-

اتره:(اتره)اسم- واحد- مؤنث- هغه لوئ ښانک چې هغې کښې د ګاټی ګرم شربت اچوی او چکی پکښې ترې جوړوی- جمع اترې-

www.pukhto.net

اتره:(اَت-ره)اسم- واحد- مؤنث- وَنه- ڤډ- تنه- جمع اترې-

اتره:(اَت-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ وجود برنۍ نيمه حصه- (۲)تاوړی-

اتره:(اتـره)اسم- واحد- مؤنث- تره- پوستکے- پټ- پوټ- پوست- شولنګ- څمرکه- پوټکے- چمړه-

اترې:(ا-تـۀ-رې)تابع مهمل- (۱)دَ خبرې تابع مهمل لکه خبرې اترې- (۲)بې معنې خبرې-

اتش:(آ-تش)اسم- واحد جمع- مذکر- اور- هور- (م- فارسی)-

اتش بازی (آ-تش-با-زی)اسم- واحد- مؤنث- لۀ بارودو د لوبو د څيزونو جوړولو او ملو سره دَ لوبو فن- (م- فارسی- اتش- اور- بازی- لوبه)-

اتش بيان:(ا-تش-بـه-يان)اسم صفت- مذکر- لۀ جوشه ډک بيان کونکے- جذباتی تقرير کونکے- (م- فارسی)-

اتش پرست:(اَ-تش-پـه-رَست)اسم- دَ اُور عبادت کونکے- (م- فارسی- اتش- اُور- پرست- عبادت کونکے)-

اتش خانه:(اَ-تش-خا-نه)اسم- واحد- مؤنث-اتش کده- دَ اتش پرستو دَ عبادت ځاۍ-

اتش دان:(اَ-تش-دان)اسم- واحد- مذکر- نغرے- د اور ساتلو ځاۍ- (م-فارسی- اتش- اور- دان- ځاۍ)-

اتش دمان (ا-تش-دمان)اسم صفت- واحد- مذکر- اور وروونکے- اُور شيندونکے-

اتشک:(اَ-تـۀ-شَک)اسم- واحد- مذکر- (۱)اُور بَلګ- اور لورګے- (۲)دَ باو مرض-

اتش کده:(اَ-تش-که-ده)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ اتش خانه- جمع اتش کدې-

اتشکی:(ا-تـۀ-شه-کي)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)اتشک سره تعلق لرونکے- (۲)پۀ اتشک ناروغه- جمع اتشکيان- (م- فارسی)-

اتشګير:(اَ-تش-ګير)صفت- مذکر- اور اخستونکے هغه مواد چې ژر اور اخلي- (۲)چمټا- (م- فارسی)-

اتشي:(اَ-تـۀ-شي)اسم- واحد- مذکر- (۱)اشکوڼ- خاربښت- يو ځناور چې پۀ بدن باندې يې لوې لوې ازغی وي- (۲)اور سره تعلق لرونکے- (م- فارسی)-

اتشي ښيښه:(اَ-تـۀ-شي-ښي-ښه)اسم مرکب- واحد- مؤنث- مُحدّبه ښيښه چې دَ نمر دَ رڼا پۀ ذريعه اور لګوي- جمع اتشي ښيښې (م- فارسی)-

اتشين:(اتـۀ-شين)اسم- واحد- مذکر- (۱)اور سره تعلق لرونکے- د اور معنی لرونکی ټول توری دَ فارسي د اتش لۀ مُونده دي- (۲)دوزخ- (م- فارسی)-

اتشي:(اَ-تـه-شي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- پۀ ماشومانو راختونکي نری سرې دانې-

اتصال (ات-ت-صال)اسم- (۱)جختيدنه- سره لګيدنه- يو ځاۍ کيدنه- وصليدنه- سره نښتنه- (۲)اړيکه پيدا کونه- رابطه موندنه-

اتصو:(اَت-صَو)اسم عدد- واحد- مذکر- اتۀ سوه- ددې معنې زوړ قرأت-

اتفاق:(ات-ت-فاق)اسم- واحد- مذکر- د نفاق ضد- يو والے- لاس يوی- اتحاد-

اتفاقاً:(ات-ت-فا-قَن)متعلق فعل- تصادفاً- ناڅاپه-

اتفاقي:(ات-ت-فا-قي)اسم صفت- واحد/جمع- مؤنث- (۱)ناڅاپی- (۲)بې ارادې-

اتکړې:(اَت-کـه-ړې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- هغه زنځير چې دَ مجرمانو لاسونو تـه اچولے شي- هتکړې- (م-هندی- هتھ- لاس- کړی- کړی)-

اتکش:(اَت-کش)اسم- واحد- مذکر- دَ اور تازه کولو سيخ- چمټا- جمع- اتکشونه- (م- فارسی- اتش- اور- کش- راکښل)-

اتکو:(ا-تـۀ-کو)اسم- واحد- مؤنث-اتکې- اډکو- اډکړه- اډکه- مور يا بلې ښځې تـه دَ ميني درناوی او ناز دَ څرګندونې توری-

اتکی:(ا-تـۀ-کي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ اتکو-

اتکيز:(اَت-ګـه-تيز)اسم صفت- مذکر- وګورئ اتکنډ/اَت پريز-

ات ګوبے:(اَت-ګو-بے)اسم صفت- هغه ګيز چې اتۀ اړخه لري-

اتل:(ا-تل)اسم صفت- غيرت مند- زړۀ ور پهلوان (افغانستان)-

اتلس:(اَت-لس)اسم- واحد- مذکر- يو قسم ښويدونکي او ځليدونکي کپړه چې ترې جامې او بوستنې جوړيږي- اطلس-

اتلس:(ا-تَل-لَس)اسم عدد- مذکر- اتۀ او لس ۱۸-

اتلسم:(ات-لـه-سَم)اسم عدد- مذکر- دَ اتلس دَ عددي (۱۸)صفتي شکل-

اتلسمه:(ات-لـه-سه-مه)اسم عدد- مؤنث- دَ د اتلس دَ عددي مؤنث صفتي شکل-

اتم:(اَ-تم)اسم عدد- مذکر- دَ اتۀ (۸)دَ عددي صفتي شکل-

اتمبار:(اَ-تـم-بار)اسم- جمع- مذکر- هجوم- بيړ باړ- اژدهام- ټېل ماټېل- کنه ګونه-

اتمه:(ا-تـۀ-مه)اسم عدد- مؤنث- دَ (۸)د عددي مؤنث صفتي شکل-

تمه:(ـتـۀ-مه)تابع مهمل- د پسمه تابع مهمل-

اتنيم:(اَت-نيم)اسم عدد- مذکر- اتۀ او نيم- دَ نهو نه نيم کم او دَ اتو نه نيم زيات-

اتنيمه:(ات-ني-مه)اسم عدد- مؤنث- دَ اتنيم دَ عددي مؤنث صفتي شکل- جمع اتنيمې-

اتن:(اَ-تَن)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ پښتو قومي ګډا- (۲)شور- جمع اتنونه-

اتن وال:(اَ-تَن-وال)اسم- مذکر- اتڼ کښې برخه اخستونکی-

اتني:(ا-تـۀ-ني)اسم صفت- د اتڼ ماهر-

اتو:(اَ-تو)اسم- واحد- مذکر- استری- دَ اُسپنې يوه آله چې دَ جامو ګنجې پرې لرې کولے شي- (کول مصدر)-

اتوار:(ات-وار)اسم- واحد- مذکر- دَ اتبار ورځ- دَ خالق او ګل (پير) تر مېنځه ورځ- (م-هندی- ابت- نمر- وار- ورځ)-

یٔ (څي-رل)، ګ (ص-ره-ول)، ک (پيا-لي)، ے (تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

اتوب:(اَ-توب)اسم- جمع- مذکر-لهٔ اوړو جوړ شوے يو رقيق خوړ مُرکّب- لېټۍ- بې مزې خوراک- ساده خوراک- (۲)اُوروب- پروز- (۳)دٔ چاړ او مېده اوړو وړې وېشتلې- مرېورے- (م- اتوم- اوره)-

اتوړے:(اَ-تو-ړے)اسم- واحد- مذکر- پټۍ- جمع- اتوړی-

اتوم:(ا-توم)اسم- واحد- مذکر- اوره-

اتونے:(اَ-تو-نے)اسم- واحد- مذکر- (۱)اتهورغ- پتونسے- (۲ صفت)- وروستنے- وروستے- وروستو پاتې- آخری- (۳)ابنی- وړوکے کوچنونکے-

اتویشتم:(اَت-ویش-تم)اسم- مذکر- دٔ اتهٔ ویشت (۲۸)دٔ هندسې صفتی شکل- جمع اتویشتمي-

اتویشتمه:(ات-ویش-تهٔ-مه)اسم عدد- مؤنث دٔ (۲۸) د هندسې مؤنث صفتی شکل- جمع اتویشتمې-

اته:(ا-ته)اسم- کولاچ- کولاځ- واز-

اته:(اَ-ته)اسم- واحد- مؤنث- احاطه- دٔ دېوال یا واړ په ذریعه بېل کړے شوے ځاے- (م- عربی- احاطه)-

اته:(اَ-ته)اسم- واحد- مؤنث- دٔ لاس دٔ مړوند په دوو هډوکو کښې دٔ یو نوم- (۲)اڅه- دٔ لاس دٔ گوتونه تر څنګلې فاصله- (۳)دٔ لاس په ذریعه دٔ کېږی مېچ- (کول/کېدل- مصدرونه)-

اته حضور:(اَ-ته-حُ-ضور)مُتعلق فعل- دانسته- لهٔ قصده- په اراده-

اته ور:(ا-ته-ور)اسم صفت- واحد- مذکر- اوږد لاسے-

اتهٔ:(اَ-تهٔ)اسم عدد- مذکر- لهٔ اوو (۷)نه یو زیات- لهٔ نهو نه یو کم-

اتهٔ اتیا:(ا-تهٔ-ات-یا)اسم عدد- مذکر- اتهٔ او اتیا- لهٔ نوی دوه کم (۸۸)-

اتهٔ اتیایم:(ا-تهٔ-ات-یا-یم)اسم عدد- مذکر- دٔ (۸۸) د هندسې مذکر صفتی شکل- جمع اتهٔ اتیایمی-

اتهٔ اتیایمه:(اَ-تهٔ-ات-یا-یهٔ-مه)اسم عدد- مؤنث- دٔ (۸۸) دٔ هندسې مؤنث صفتی شکل- جمع اته اتیایمې-

اتهٔ اویا:(اَ-تهٔ-اُو-یا)اسم عدد- اتهٔ او اویا- لهٔ اتیاۤ دوه (۲) کم-

اتهٔ اویایم:(اَ-تهٔ-اَو-یا-یَم)اسم عدد- مذکر- دٔ (۸۷) دٔ هندسې مذکر صفتی شکل-

اتهٔ اویایمه:(اَ-تهٔ-اَو-یا-یهٔ-مه)اسم عدد- مؤنث- دٔ (۷۸) هندسې مؤنث صفتی شکل- جمع اتهٔ اویایمې-

اتهٔ پنځوس:(اَ-تهٔ-پَن-ځوس)اسم عدد- دوه کم شپېته- یو او اوه پنځوس-

اتهٔ پنځوسم:(اَ-تهٔ-پَن-ځو-سَم)اسم عدد- مذکر- دٔ (۵۸) دٔ هندسې مذکر صفتی شکل-

اتهٔ پنځوسمه:(ا-تهٔ-پن-ځو-سهٔ-مه)اسم عدد- مؤنث- د (۵۸) د هندسې مؤنث صفتی شکل- جمع اتهٔ پنځوسمې-

اتهٔ څلوېښت:(ا-تهٔ-څل-وېښت)اسم عدد- اتهٔ او څلوېښت- دوه کم پنځوس-

اته څلوېښتم:(ا-تهٔ-څل-وېښ-تم)اسم عدد- مذکر- د (۴۸) د هندسې مذکر صفتی شکل-

اتهٔ څلوېښتمه:(اَ-تهٔ-څل-وېښ-تهٔ-مه)اسم عدد- مؤنث- دٔ (۴۸) دٔ هندسې صفتی شکل- جمع اتهٔ څلوېښتمې-

اتهٔ دېرش:(اَ-تهٔ-دېرش)اسم عدد- اتهٔ او دېرش- دوه کم څلوېښت-

اتهٔ دېرشم:(اَ-تهٔ-دېر-شَم)اسم عدد- مذکر- دٔ (۳۸) دٔ هندسې مذکر صفتی شکل-

اتهٔ دېرشمه:(اَ-تهٔ-دېر-شهٔ-مه)اسم عدد- مؤنث- د (۳۸) دٔ هندسې مؤنث صفتی شکل- جمع اتهٔ دېرشمې-

اتهٔ شپېته:(اَ-تهٔ-شپې-تهٔ)اسم عدد- اتهٔ او شپېته- دوه کم اویا-

اتهٔ شپېتم:(ا-تهٔ-شپې-تم)اسم عدد- مذکر- د (۶۸) د هندسې مذکر صفتی شکل-

اتهٔ شپېتمه:(اَ-تهٔ-شپې-تهٔ-مه)اسم عدد- مؤنث- دٔ (۶۸) د هندسې مؤنث صفتی شکل- جمع اتهٔ شپېتمې-

اتهٔ نوی:(ا-ته-نهٔ-وی)اسم عدد- مذکر- اتهٔ او نوی- لهٔ سلو دوه کم (۹۸)-

اتهٔ نویایم:(اَ-تهٔ-نو-یا-یم)اسم عدد- مذکر- دٔ (۹۸) دٔ هندسې مذکر صفتی شکل-

اتهٔ نویایمه:(اَ-تهٔ-نو-یا-یهٔ-مه)اسم عدد- مؤنث- دٔ (۹۸) دٔ هندسې مؤنث صفتی شکل- جمع اتهٔ نویایمې-

اتهٔ ویشت:(ا-تهٔ-ویشت)اسم عدد- مذکر- اتهٔ او شل- دوه کم دېرش-

اتهٔ ویشتم:(اَ-تهٔ-ویش-تَم)اسم عدد- مذکر- دٔ (۲۸) دٔ هندسې مُذکر صفتی شکل-

اتهٔ ویشتمه:(اَ-تهٔ-ویش-تهٔ-مه)اسم عدد- مؤنث- دٔ (۲۸) دٔ هندسې مؤنث صفتی شکل- جمع اتهٔ ویشتمې-

اتی:(ا-تي)اسم- واحد- مذکر- یو مشهور ځنګلی غټ ځناور چې رنګ یې تور وی- (م- هاتی- هندی)-

اتی:(اَ-تي)اسم- واحد- مذکر- د وړ غم (په غنډسکه دٔ یو بل ویشتلو) په لوبه کښې دٔ غنډسکې لر لره کول چې کېر لوبغاړے منډه کړی- اتیران-

اتیا:(ات-یا)اسم عدد- مذکر- اویا او لس-نوی نه لس کم- څلور شلې-

اتبات:(ا-بات)اسم- احتیاط- هتبات- (قدیم)-

اتباتی:(ات-با-تي)اسم صفت- واحد- مذکر- احتیاطی- احتیاط کونکے- محتاط- هتباتی- جمع اتباتیان-

اتیازه:(ات-یا-زهٔ-مه)صفت- لهٔ اوله- لهٔ شروع- لهٔ مخې-

اتیایم:(اَت-یا-یَم)صفت- مذکر- دٔ اتیا (۸۰) دٔ هندسې صفتی شکل-

اتیایمه:(ات-یا-یهٔ-مه)اسم عدد- مؤنث- د (۸۰) د هندسې مؤنث صفتی شکل- جمع اتیایمې-

اتیانے:(اَت-یا-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- زورور- معتبر- جمع اتیانی-

اتیوان:(ا-تي-وان)اسم- واحد- مذکر- د هلکانو په څنو لوبو عموماً وړ غم کښې مخالف لره د تېښتې دٔ موقعې ورکولو رعایت- عارضی صلح- اتی-

اتیه:(ا-تیه)اسم- ګانده- راټلونکې-

اټ:(اَټ)اسم- واحد- مذکر- اټی- وړوکے دوکان- دَ کلیو دوکان- جمع اټونه- (م- هاټ- هټ- هټی- هندی)-

اټاری:(اَ-ټا-ری)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)اټاری- دَ قلعه برج- مورچې لرونکے برج- (۲)دَ حفاظت ځائې- حفاظت گاه-

اټاری:(اَ-ټا-ری)اسم-واحد/جمع- مؤنث- دَ یو تېغ نوم-

اټال:(اَ-ټال)اسم صفت- مذکر- ماتل- ځنډېدلے- ایسار- نښتے- مؤنث اټاله-

اټالتیا:(اَ-ټال-تیا)اسم- مؤنث- ماتلی- ایسارتیا-

اټالول:(اَ-ټا-لۀ-وَل)مصدر متعدی- ایسارول- ماتلول- ځوړند ساتل- لۀ کاره ویستل-

اټالون:(اَ-ټا-لۀ-وَن)حاصل مصدر- وګوری اټالول-

اټالونکے:(اَ-ټا-لۀ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اټالونکی- مؤنث اټالونکې- وګوری اټالول-

اټالونګ:(اَ-ټا-لۀ-وَنګ)حاصل مصدر- وګوری اټالول-

اټالونه:(اَ-ټا-لۀ-وۀ-نه)حاصل مصدر- وګوری اټالول-

اټالوے:(اَ-ټا-لۀ-وے)اسم مفعول واحد- مذکر- وګوری اټالول-

اټاله:(اَ-ټا-له)اسم- (۱)یرغل- حمله- (۲)پرېشانی- (۳)پۀ ښتله دَ مال خرڅونه-

اټاله:(اَ-ټا-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دلی- ټوپ- (۲)دَ کور سامان- (۳)دَ بې کاره څیزونو انبار- جمع اټالې-

اټالېدل:(اَ-ټا-لې-دَل)مصدر لازم- ایسارېدل- پاتې کېدل- ماتل کېدل-

اټالېدن:(اَ-ټا-لې-دَن)حاصل مصدر- وګوری اټالېدل-

اټالېدنګ:(اَ-ټا-لې-دَنګ)حاصل مصدر- وګوری اټالېدل-

اټالېدنه:(اَ-ټا-لې-دۀ-نه)حاصل مصدر- وګوری اټالېدل-

اټالېدونکے:(اَ-ټا-لې-دون-کے)اسم فاعل /صفت- واحد- مذکر- جمع اټالېدونکی- مؤنث اټالېدونکې- وګوری اټالېدل-

اټالېدۀ:(اَ-ټا-لې-دۀ)حاصل مصدر- وګوری اټالېدل-

اټاو:(اَ-ټاو)اسم صفت- مذکر- ایسار- تم- ودرېدلے- پۀ ځائې- ماتل (معطل)- مؤنث اټاوه-

اټامی:(اَ-ټا-می)اسم- واحد- مؤنث- ځانګو- ګواره-

اټ سټ:(اَټ-سټ)اسم- مذکر- وګوری اټه سټه- (۱)ښېلو کښې پۀ څۀ خبره اتفاق- (۲)رعایت- (۳)صلاح (کول/کېدل- مصدرونه)-

اټ سټ:(اَټ-سټ)اسم- ټول ټال- کل وار- جواری کښې هر څۀ پۀ داؤ کونه- د وټه سټه ضد-

اټسکے:(اَټس-کے)اسم- واحد- مذکر- پۀ ټوسکه ټوسکه ژړا- جمع اټسکی-

اټسکے:(اَ-ټس-کے)اسم- واحد- مذکر- انتروښے- نوے- ان ټښے- جمع اټسکی-

اټکل:(اَټ-کل)اسم- واحد- مذکر- ګومان خیال- تخمینه- چل ول- اندازه- جمع اټکلونه-

اټکلباز:(اَټ-کل-باز)اسم صفت- واحد- مذکر- اټکل کوونکے- اټکلی-

اټکلول:(اَټ-کۀ-لۀ-وَل)مصدر متعدی- (۱)اندازه لګول- ګومان کول- خیال کول- تخمینه لګول- (۲)فکر کول-

اټکلون:(اَټ-کۀ-لۀ-وَن)حاصل مصدر - وګوری اټکلول-

اټکلونکے:(اَټ-کۀ-لۀ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اټکلونکی- مؤنث اټکلونکې- وګوری اټکلول-

اټکلونګ:(اَټ-کۀ-لۀ-وَنګ)حاصل مصدر- وګوری اټکلول-

اټکلونه:(اَټ-کۀ-لۀ-وۀ-نه)حاصل مصدر- وګوری اټکلول-

اټکلی:(اَټ-کۀ-لی)اسم صفت- واحد- مذکر- جمع اټکلیان- وګوری اټکلباز-

اټکلېدل:(اَټ-کۀ-لې-دَل)مصدر لازم- (۱)اندازه لګېدل- تخمینه کېدل- ګومان کېدل- (۲)فکر کېدل- کَل کېدل-

اټکلېدن:(اَټ-کۀ-لې-دَن)حاصل مصدر- وګوری اټکلېدل-

اټکلېدونکے:(اَټ-کۀ-لې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اټکلېدونکی- مؤنث اټکلېدونکې- وګوری اټکلېدل-

اټکلېدنګ:(اَټ-کۀ-لې-دَنګ)حاصل مصدر- وګوری اټکلېدل-

اټکلېدنه:(اَټ-کۀ-لې-دۀ-نه)حاصل مصدر- وګوری اټکلېدل-

اټکلېدۀ:(اَټ-کۀ-لې-دۀ)حاصل مصدر- وګوری اټکلېدل-

اټک منډ:(اَ-ټک-مۀ-نډ)اسم- واحد- مذکر- ګل صد برګ- سټېر- صدبرګ- یو زیړ رنګے ګل- نباتاتی نوم- ټیګټس ایریکټا(TAGETES ERECTA)-

اټکی:(اَټ-کی)صفت فاعل- وټکی- لړګے راکښونکے- چیلم څښونکے-

اټکی:(اَټ-کی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- لۀ خُلې یو آواز سره دَ هوا خارجېدنه- (۲) یو مرض- (راتلل/لګېدل مصدرونه)-

اټکی:(اَټه-کی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)دَ ما وروستی او دَ مګر وړومبی لنډ وروځې- (۲)دَ مټی باد-

اټکے:(اَټ-کے)اسم- واحد- مذکر- دَ لوګی دَ تللو لار- چمنی- انګیټی- لوګی خانه- موری- مګ-

اټوخے:(اَټو-خے)اسم- واحد- مذکر- بازار (افغانستان)-

اټوری:(اَټو-ری)اسم- واحد- مؤنث- خوږ یا ختلی هډوکی ته دَ علاج دَ پاره استعمالېدونکې دَ سپېنو اټه-

اټ وسټ:(اَټ-وۀ-سټ)صفت- (۱)مکمل تباه- (۲)اسټ کورے- (۳)وران- سټ وټ-

اټه:(اَټه)اسم- واحد- مؤنث- اټېرن شوی تاړونه- جمع اټې-

اټه:(اَ-ټه)اسم- واحد- مؤنث- (۱) بوالهوسی- (۲)یو قسم جواری چې پۀ سپېټو او هډوکو کېږی-

اټه:(اَ-ټه)اسم- واحد- مؤنث- مېده- نرم او مېده اوړۀ (م- هندی- اټا)

اټه سټه:(اَ-ټه-سۀ-ټه)اسم- واحد- مؤنث- اټ سټ (۱)بندوبست- (۲)تنظیم- (۳)برابرېدۀ (۴)سرمایه- توکه شوکه- د کور ماته ګډه- (۵)خامخا-

www.pukhto.net

بې وجې-

اته کته:(أ-تِه-کَ‌مه-تِه)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- غټ پېټ- جمع اتې کتې- (ش- هتا کتا- هندی)-

اتې:(أ-تې)اسم- جمع- مؤنث- (۱)په اتېړن د تار جوړې شوې کونجې چې (۸) شکل يې اختيار کړے وی (۲)د تارونو يا سپنسو کونجې-

اتې اتې:(أ-تې-أ-تې)اسم- وګورئ د اتې دويمه معنیٰ-

اتېړان:(أ-تې-ړان)اسم- واحد- مذکر- (۱)کوټک- څوبڼه- هغه آله چې د سپنسو اتې پرې جوړوی- (۲)يوه مخصوصه لوبه-

اتېړل:(أ-تې-ړل)مصدر- بدمضمه کېدل- اغېړل- اغېړول-

اتېړلے:(أ-تې-ړ-لے)اسم مفعول- جمع اتېړلی- مؤنث اتېړلې- وګورئ اتېړل-

اتېړن:(أ-تې-ړن)اسم صفت- واحد- مذکر- اغېړه- هغه څوک چې خېټه يې خرابه شوې وی-

اتېړن:(أ-تې-ړن)اسم- واحد- مذکر- هغه آله چې د سپنسو اتې پرې جوړوی- وګورئ اتېړان-

اتېړنه:(أ-تې-ړ-نه)حاصل مصدر- وګورئ اتېړل-

اتېکه:(أ-تې-که)اسم- واحد- مؤنث- د ښځې ښنګری يا د ګېڼې په ځای کولو د پاره استعمالېدونکې اته- جمع اتېکې-

اتې نتې:(أ-تې-نه-تې)اسم- جمع- مؤنث- (۱)عشوه و غمزه- ناز و ادا- قېچ مکېز- (۲)کنج- (۳)اوښې پوښې-

اتې وال:(أ-تې-وال)اسم صفت- واحد- مذکر- د اتې خاوند- دکاندار- دوکاندار-

اتې:(أ-تې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)وړوکے دکان- (۲)د تار کونجې- ترنجې- کونځې- (م- هتی- هندی)-

اثاثه:(أ-ثا-ثه)اسم- واحد- مؤنث- د کور سامان- کالی- اسباب- جمع اثاثې-

اثار:(ا-ثار)اسم- جمع- مذکر- د اثر جمع-

اثار قديمه:(آ-ثا-ری-قه-دی-مه)اسم- جمع- د پخوانی زمانې نښې نښانې- زاړه عمارتونه- (فارسی)-

اثبات:(اث-بات)اسم- زباتونه- ثابتونه- دليل راوړنه- سپيناوے- سر ته رسونه- (م- عربی)-

اثباتول:(أث-با-ته-ول)مصدر متعدی- زباتول- سپينول- ثابتول- يو څيز په چا منل-

اثباتون:(اث-با-ته-ون)حاصل مصدر- وګورئ اثباتول-

اثباتونګ:(اث-با-ته-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ اثباتول-

اثباتونکے:(اث-با-ته-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اثباتونکی- مؤنث اثباتونکې- وګورئ اثباتول-

اثباتونه:(اث-با-ته-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ اثباتول-

اثباتېدل:(اث-با-تې-دل)مصدر لازم- ثابتېدل- سپينېدل- زباتېدل-

اثباتېدن:(اث-با-تې-دن)حاصل مصدر- وګورئ اثباتېدل-

اثباتېدنګ:(اث-با-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ اثباتېدل-

اثباتېدنه:(اث-با-تې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ اثباتېدل-

اثباتېدونکے:(اث-با-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اثباتېدونکی- مؤنث اثباتېدونکې- وګورئ اثباتېدل-

اثباتېده:(اث-با-تې-ده)حاصل مصدر- وګورئ اثباتېدل-

اثر:(ا-ثر)اسم- واحد- مذکر- (۱)نښه- نښانه- تاثير- نتيجه- (۲)رساله- کښه- کتاب (افغانستان)- جمع آثار- اثرونه- اثرات- (کول/کېدل- مصدرونه)-

اثرناک:(أ-ثر-ناک)صفت/فاعل- واحد- مذکر- اثر کونکے- اثر څرګندونکے- تاثير کونکے-

اثری:(أ-ثه-ری)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- (۱)مانده من- (۲)باتريا- چې مغزو کښې يې خلل وی- ماغزهٔ خرابے- پاګل- بې توکه خبرې کونکے- (۳)اثر لرونکے- (۴) بنګلے- تاثيرناک-

اثنا:(اث-نا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وخت- ترخ- ترڅ- تپاپی- (۲)وقفه- منځ- (۳)سيالہ-

اثناعشری:(اث-نا-عه-شه-ری)اسم- واحد- مذکر- شيعه- د دولسو امامانو منونکی- جمع اثناعشريان- (م- عربی- اثناً عشر- دولس)-

اجابت:(ا-جا-بت)اسم- (۱)قبلول- قبوليت- (۲)لوئ بول-

اجاره:(أ-جا-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د جائيداد فصل وغيره د يو خاص ميعاد د پاره د څه رقم په عوض کښې د اخستلو/ورکولو ټيکه- (۲)سود (وزيرستان)- (۳)انحصار (افغانستان)- د يو کار يا کسب د کولو مکمل اختيارات چې بل څوک يې د کولو اجازت نهٔ لری-

اجاره دار:(ا-جا-ره-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- اجاره اخستونکے- ټيکه دار- باړه وال-

اجاره داری:(ا-جا-ره-دا-ری)اسم- واحد- مؤنث- د اجاری لرلو حالت-

اجاړ:(أ-جاړ)اسم صفت- واحد- مذکر- ويجاړ- برباد- غير آباد- وران سوے-

اجاړول:(أ-جا-ړ-ول)مصدر متعدی- ورانول- ويجاړول- شاړول- برباددول- تباه کول-

اجاړون:(أ-جا-ړ-ون)حاصل مصدر- وګورئ أجاړول-

اجاړونکے:(أ-جا-ړ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع أجاړونکی- مؤنث اجاړونکې- وګورئ أجاړول-

اجاړونګ:(أ-جا-ړ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ أجاړول-

اجاړونه:(أ-جا-ړ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ أجاړول-

اجاړېدل:(أ-جا-ړې-دل)مصدر لازم- ويجاړېدل- ورانېدل- بربادېدل- شاړېدل-

اجاړېدن:(أ-جا-ړې-دن)حاصل مصدر- وګورئ أجاړېدل-

رمز (ح-مه-ره)؛ زورکے (شل)؛ ټپيش (ټو-کا-ره)؛ رمز (ک-تاب)؛ جزم (شکون)؛ ه (ر-ړه)؛ ۂ (يو-مي-ده)

www.pukhto.net

اجاړېدنګ:(اَ-جا-ړې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ اَجاړېدل-
اجاړېدنه:(اَ-جا-ړې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ اَجاړېدل-
اجاړېدونکے:(اَ-جا-ړې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اجاړېدونکی- مؤنث اَجاړېدونکې- وګورئ اَجاړېدل-
اجاړېدهٔ:(اَ-جا-ړې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ اَجاړېدل-
اجازت:(اِ-جا-زت)اسم- منظوري- دَ حاکم یا مشر لهٔ خوا دَ یو کار پهٔ کولو دَ رضا مندۍ اظهار- اذن- اجازه- (م- عربي)-
اجازه:(اِ-جا-زه)اسم- واحد- مؤنث- منظوري- دَ تعویذ یا دَم عهده(اوده) (ورکول/اخستل/کېدل- مصدرونه)-
اجان:(اَ-جان)اسم صفت- واحد- مذکر- ناجانه- هغه څوک چې د ځهٔ ځېر وامعې وغېره پهٔ حمله ځان سي خبره بېکاره کوي- (م- هندي- اجان)-
اجانې:(اِ-جا-نې)اسم- واحد جمع- مؤنث- اجیانې- حاجیانې- اجېه- اجې- هغه ښځه چې حج یې کړے وي- دَ اَجې مؤنث-
اجانۍ:(اجا-نۍ)اسم- واحد- مؤنث- دَ حمل پهٔ دوران کښې تروشو څیزونو ته د مېلان کېښت-
اجباري:(اِج-با-ري)اسم- پهٔ زور- بې خوښې- جبري- (عربي)-
اجتماع: (اِج-تِ-ماع)اسم- واحد- مؤنث- غُنډه- جلسه- ګډه- یو ځائې کېدنه- (م- عربي)-
اجتماعي:(اِج-تِ-ما-عي)صفت- اجتماع سره متعلق- پهٔ ګډه- پهٔ غُنډه-
اجتناب:(اِج-تِ-ناب)اسم- ځان ساتنه- لرې کېدنه- پرهېز- پېږه- (م- عربي)-
اجتهاد:(اِج-تِ-هاد)اسم- کوشش کونه- لټون کونه- سعي کونه- دَ قرآن کریم- سنت- حدیث او اجماع پهٔ رڼا کښې دَ دیني مسئلو دَحل کولو کوشش کونه- (عربي- جهد)-
اجداد:(اِج-داد)اسم- جمع- مذکر- د جد جمع- نیکونه- نیکهٔ او د نیکهٔ نه پورته پېړۍ-
اجر:(اَجر) اسم- واحد- مذکر- (۱)عوض- بدل- بارہ- (۲)ثواب-
اجرا:(اِج-را)اسم- (۱)سر ته رسونه- تمامونه- چلونه- پهٔ ځائې کونه- (۲)د عدالتي ډګرۍ جاري کېدنه (قانون)-
اجرام:(اَج-رام)اسم- جمع- مذکر- دَ جرم جمع-
اجرت:(اُج-رت)اسم- مزدوري- قیمت- (م- عربي)-
اجرتي:(اُج-رتي)اسم- واحد- مذکر- (۱)مزدور- (۲ صفت)- هغه سړے چې پهٔ پېسو قتل کوي-
اجرۍ:(اُج-رۍ)اسم- واحد جمع- مؤنث- لرے-
اجړ:(اَ-جړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه سړے چې شادوګانې کوي- (۲)د مشرقي پښتونخوا پهٔ غرونو کښې وسېدونکے یو قوم چې مال ځنګر ساتي- جمع اجړان- مؤنث اجړه-
اجړا:(اِج-ړا)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ مېجړا-
اجړه:(اِج-ړه)اسم صفت- (۱)ګډه- (۲)کنجوټه- (۳)بې مخه بې څټه- ځنبې- (۵)اچتي- (۶)بېړه-
اجری:(اِج-ري)اسم صفت- واحد- مذکر- ګډبه- هغه څوک چې رمه پیائي- څرونکے- ګډبون- شپون- اړبه-
اجزا:(اَج-زا)اسم- جمع- مذکر- ټوکې- حصې- ټکړې- واحد جزو (عربي)-
اجسام:(اَج-سام)اسم- جمع- مذکر- جسمونه- بدنونه (واحد جسم- عربي)-
اجغے:(اِج-غے)اسم- واحد- مذکر- دَ ښکون دَ ځاندان یو ځناور- شیشکے- شرکے-
اجګر:(اَج-ګر)اسم- واحد- مذکر- لوئې مار- اژدها- (م- اژدر)-
اجل:(اَ-جل)اسم صفت- واحد- مذکر- دَ بل زمکه کرونکے- بخره خور-
اجل:(اَ-جَل)اسم- واحد- مذکر- دَ مرګ مېنهه- مرګ- جمع اجلونه- (م- عربي- اجل- نېټه)-
اجلاب:(اِج-لاب)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- پاک- سوتره- سپېځلے- صفا-
اجلاس:(اِج-لاس)اسم- واحد- مذکر- کښېنونه- کښېناستنه- (۲)دَ حاکم د مقدماتو فېصله کولو ځائ او وخت- (۳)دربار- وړه جَلسه- جمع اجلاسُونه (م- عربي)-
اجلخے:(اَ-جَل-خے)اسم- واحد- مذکر- لوبرنده- تندرکے- رونګه- (۲)ځینې غورې- دَ غورو پوسکې شانه ځائ- جمع اجلخي-
اجل ګیاه:(اَجل-ګیاه)اسم- جمع- مؤنث- کندېر پاڼې- کندېر بوټي- یو زهري دارو-
اجماع:(اِج-ماع)اسم- مؤنث- (۱)جمع کېدنه- ټولېدنه- (۲)اتفاق- پهٔ یو خاص وخت کښې دَ اُمت د عالمانو پهٔ یوه مسئله را غونډېدنه چې د اسلامي قانون ځلورم ماخذ دے- (م- عربي)-
اجمال:(اِج-مال)اسم- واحد- مذکر- دَ تفصیل ضد- خلاصه- اختصار- لنډوالے- (عربي)-
اجمالاً:(اِج-ما-لَن)متعلق فعل- پهٔ اجمال سره- پهٔ اختصار سره- پهٔ لنډو-
اجمالي:(اِج-ما-لي)صفت- د اجمال سره متعلق- لنډ- مختصر-
اجمیر:(اَج-میر)اسم- واحد- مذکر- دَ یو ګل نوم-
اجناس:(اَج-ناس)اسم- جمع- مذکر- اشیاء- څیزونه- دَ یوهٔ شان ډېر څیزونه- (م- عربي)-
اجنه:(اَجِنه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ اجانې-
اجوت:(اَج-وَت)اسم صفت- واحد- مذکر- جُخت- یو بل سره پېوست- مضبوط- برابر- یوځائې- مؤنث اجوته-
اجوت والے:(اَج-وَت-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- جختوالے- مضبوطوالے- برابروالے-
اجوتول:(اَج-وَت-تَ-ول)مصدر متعدي- جختول- یو بل سره پېوست کول- مضبوطول- نژدې کول- یو ځائ کول- برابرول- محکمول-
اجوتون:(اَج-وَت-تون)حاصل مصدر- وګورئ اجوتول-
اجوتونکے:(اَج-وَت-تَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اجوتونکی-

www pukhto net

مؤنث اجوتونکې- وګورئ اجوتول-

اجوتونګ:(اَج-وڅ-تـه-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ اجوتول-

اجوتونه:(اَج-وڅ-تـه-وڅ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ اجوتول-

اجوتېدل:(اَج-وڅ-تې-دَل)مصدرِ لازم- جُختېدل- پېوستېدل- يوځايْ کېدل- برابرېدل-

اجوتېدن:(اَج-وڅ-تې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ اجوتېدل-

اجوتېدنګ:(اَج-وڅ-تې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ اجوتېدل-

اجوتېدنه:(اَج-وڅ-تې-دڅ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ اجوتېدل-

اجوتېدونکے:(اَج-وڅ-تې-دُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع اجوتېدونکی- مؤنث اجوتېدونکې- وګورئ اجوتېدل-

اجوتېده:(اَج-وڅ-تې-دهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ اجوتېدل-

اجورن:(اَ-جُو-رَن)صفت- مذکر- بيمار غاړے- سټړے ستومانه-

اجوره:(اَ-جُو-ره)اسم- واحد- مؤنث- مزدُوري- بساړه- دَ کـار مزدوري- دياړي- (م- عربي)-

اجه:(اَ-جه)اسم- واحد- مؤنث- ژوره- جوګه- يو چينجے چې صحا اَبو کښې پائي- خنو مرضونو کښې دَ انساني وينې څښلو لهٔ پاره پکارېږي-

اجي:(اَ-جي)اسم صفت- واحد- مذکر- حاجي- هغه سړے چې حج يې کړے وي- جمع اجيان-

اجير:(اَ-جير)اسمِ صفت- واحد- مذکر- (۱)جريب کش- چې زمکه پهٔ زنځير ميچ کوي- (۲)کرايه دار- مزدور- باړي- باړه چي- پهٔ دياړي کارکونکے- (عربي)-

اجيرن:(اَ-جي-رَن)اسمِ صفت- مذکر- شل- ضعيف- کمزورے- جورن- (ش- هندي- اجيرن)-

اځب:(اَځ-به)اسم- واحد- مؤنث- تېښته- فرار- جمع اځبې-

اځبے:(اَځ-بے)اسم صفت- واحد- مذکر- تښتېدلے-

اڅي:(اَ-څي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)کهېره- ټوکره- (۲)اڅي- چچه- بانډه- چالکي-

اچاهت:(اَ-چا-هَت)اسم- دُکاندار نه پهٔ قرض دَ سودا راوړلو حساب- (م-هندي- اچاهت- هم پهٔ دغه معنیٰ کښې)-

اچار:(اَ-چار)اسم- واحد- مذکر- (۱)پهٔ سرکه دَ شړشمو تېلو، شملو وغيره کښې محفوظه کړې شوې سبزي- ترکاري يا مېوه- (۲- صفت)لوړه ژوره- کږکاږېره-

اچاري:(اَ-چا-ري)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه سړے چې اَچار خرڅوي-

اچاوهٔ:(اَ-چا-وهٔ)فعل- (۱)اچول مصدر نه ماضي استمراري- وګورئ اچول- (۲)ادار-

اچر:(اَ-چر)اسم- واحد- مذکر- (۱)ارچه- دَ يوې وُنې نامه چې دَ کوټو تيرونه ترې جوړيږي- دَ نباتاتي نوم دَ پاره وګورئ ارچه-

اچرلے:(اَ-چُر-لے)اسم- واحد- مذکر- اُچولے- تندے- تندہ-

اچرنګ:(اَچ-رُنګ-ګ)اسم- واحد- مؤنث- کوړکوړي- کورکوري- کوکوشتو- نابغه- ببوغه- بابوغې- کوکړې- کوکوشتکه- يوه عامه حلاله مرغۍ چې رنګ يې خړبخن، شين بخن وي-

اچغنه:(اَچ-غه-نه)اسم- واحد- مؤنث- دَ ګړي کاني- چغنه-

اچکل:(اَچ-کَل)اسم- واحد- مذکر- بې لمه ګوړوړے-

اچکي:(اَچ-کي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وُ ګوري وُچکي-

اچ موچ:(اَچ-موچ)اسم- واحد/جمع- مذکر- (۱)اَپس پټوي- ګلي پټوي- دَ ملکانو يوه لوبه (دَ لوچ او موچ مرکب)- (۲)اوې جاوې- (۳)اړې اړې-

اچو:(اَ-چو)اسم- واحد- مذکر- رس بري- دَ الوچې پهٔ څېر يوه ترشه مېوه او دَ هغې بوټے-

اچو:(اَ-چو)صفت- وګورئ اَخ (ورومبی معنیٰ)-

اچوانۍ:(اَچ-وا-نۍ)اسم- جمع- مؤنث- (۱)کاړه- (۲)دَ بال بچ مورله ورکېدونې نرمه لېټۍ (م-هندي)-

اچوپ:(اَ-چوپ)اسم صفت- واحد- مذکر- ارت-

اچول:(اَ-چه-وَل)مصدر متعدي- اچېيل- (۱)ګوزارول- (۲)اېښول- (۳)پهړ ته راوګځل- (۴)کښېنول- (۵)دننه کول- (۶)ماده باندې دَ نَر خېژول- (۷)قې کول- (۸)زيان کول (دَ ماشوم)-

اچون:(اَ-چه-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ اچول-

اچونکے:(اَ-چه-وون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع اچونکي- مؤنث اچونکې- وګورئ اچول-

اچونګ:(اَ-چه-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ اچول-

اچونه:(اَ-چه-وڅ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ اچول-

اچونے:(اَ-چه-وڅ-نے)اسم- واحد- مذکر- هغه ماشوم چې دَ نېټې نه وړاندې پېداشي- جمع اچوني- مؤنث اچونه- جمع/مؤنث اچونې-

اچه:(اَ-چه)اسم- واحد- مؤنث- پيکور- پړانګې- دوه شاخه لرګے- دوګور دوه غاښي- دوه غاښے- دوه شاخے- پرهانګې-

اچه:(اَ-چه)اسم صوت- دَبزې يا وزې دَ شړلو آواز کچې- کرو- کرې-

اچه:(اَ-چه)صفت- صفا- سوتره- پاکيزه (کول/کېدل مصدرونه)- (م- هندي- اچها)-

اچې کول:(اَ-چې-کـه-وَل)ترکيبي مصدر- سهے پهٔ چا پسې کول- سهے توکول- اُچېش کول- کشکالول-

اچېدل:(اَ-چي-دَل)مصدر لازم- غرځېدل- ګوزارېدل-

اچېدلے:(اَ-چې-دڅ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اچېدلي- مؤنث اچېدلې- وګورئ اچېدل-

اچېدن:(اَ-چې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ اچېدل-

اچېدنګ:(اَ-چې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ اچېدل-

اچېدونکے:(اَ-چې-دُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع اچېدونکي- مؤنث اُچېدونکې- وګورئ اچېدل-

زبر"(خ-بـڅ-ره)، زوروکے"(شل)، زېر"(ک-تـاب)، پېښ"(نو-کـا-ره)، جزم"(شکون)، ۀ"(ژ-ړه)، ۀ"(ږو-ږې-دهٔ)

www.pukhto.net

اچېدهٔ:(اَ-چې-دهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ اچېدل-

اچېش:(اَ-چېش)اسم صوت- سپی ته دَ حملې او غوا مېښې يا غوايانو ته دَ اُبو څښلو ترغيب- (کول/کېدل مصدرونه)-

اچېيل:(اَ-چې-يل)مصدر/فعل لازم- وګورئ اُچول-

اچي:(اَ-چي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دَ غواګانو يو قسم چې په قد وړه او دَ پيو مړنۍ وي يعنې پئ ډېر کوي-

اچې:(اَ-چې)اسم- واحد- مذکر- مؤنث اچي- وګورئ اچي-

اګکېزه:(اَ-ګکې-زه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)تمبو- خېمه- کېږدۍ- دَ کوچيانو او نورو کډوالانو تمبو- جمع اګکېزې- (۲)هغه لرګی چې خېمه يا کېږدۍ پرې باندې ودرېږي-

اګڼل:(اَګ-ڼل)مصدر- (۱)اټول- (۲)اندازه کول- (۳)بوډل- (۴)وزن يا سر برابرول-

اګڼلے:(اَګ-ڼهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اګڼلي- مؤنث اګڼلې- وګورئ اګڼل-

اګڼنه:(اَګ-ڼهٔ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ اګڼل-

اګڼونکے:(اَګ-ڼون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اګڼونکي- مؤنث اګڼونکې- وګورئ اګڼل-

اګڼهٔ:(اَګ-ڼهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ اګڼل-

اګه:(اَ-ګه)اسم- واحد- مذکر/مؤنث-(۱) دَ کډو بزو دَ مخکښېو پېشو لاندېنے مېږوکے (دَ وروستو ضد)- (۲)ولے- (۳)مخه-

اګه:(اَ-ګه)اسم صوت- بزه شړنه- دَ بزې دَ شړلو آواز-

اګۍ:(اَ-ګۍ)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ اګی-

احاديث:(اَ-حا-ديث)اسم- جمع- مذکر- خبرې- هغه خبرې چې له رسولِ کريم صلی الله عليه و سلم نه دَ راويانو په ذريعه مونږ ته را رسېدلې دي- واحد حديث-

احاطه:(اِ-حا-طه)اسم- واحد- مؤنث- (۱) راګېرونه- (۲)دَ چېل بېله بېله حصه (۳)په څلورو دېوالونو کښې را ګېر ځاۍ- انګڼ- غولے- (۴)بانېه- ماسته- (۵)دښمن محاصره کونه- (۶)چاپېرونه-

احباب:(اَح-باب)اسم- جمع- مذکر- ملګري- دوستان- عزيزان- اشنايان- خواږهٔ ياران- زړهٔ ته نژدې دوستان- واحد حبيب- (م- عربي)-

احبار:(اَح-بار)اسم- جمع -مذکر-(۱)دَ خبر جمع- دَ يهوديانو عالمان- (۲)دَ زړې عهد نامې يو کتاب- (عربي)-

احتجاج:(اِح-تِ-جاج)اسم- واحد- مذکر- په سختۍ سره دَ څهٔ کار يا خبرې نه انکار کونه او دَ هغې خلاف آواز پورته کونه- ځنګان بنکاره کونه- (کول/کېدل مصدرونه)- (عربي)-

احتجاجي:(اِح-تِ-جا-جي)صفت- دَ احتجاج سره تعلق لرونکے- وګورئ احتجاج-

احتراز:(اِح-تِ-راز)اسم- واحد- مذکر- ځنګ کونه- ځان ساتنه- پوه کونه- ځان ژغورنه-

احترام:(اِح-تِ-رام)اسم- واحد- مذکر- تعظيم- مدار کونه- عزّت کونه- (م- عربي)-

احتراماً:(اِح-تِ-را-مَن)متعلق فعل- دَ احترام په طور- (م- عربي)-

احتساب:(اِح-تِ-ساب)اسم- مذکر- جاچ اخستنه- حساب اخستنه- (م- عربي)-

احتلام:(اِح-تِ-لام)اسم- مذکر- په خوب کښې اوبه اوربېدنه- جامې بليتېدنه- غسل فرض کېدنه- (م- عربي)-

احتمال:(اِح-تِ-مال)اسم- مذکر- ګمان- شک شبه- اُميد- امکان- (عربي)-

احتياج:(اِح-تِ-ياج)اسم- مذکر- حاجت- ضرورت- غرض- اړه- اړتيا- اړتاله- موتازي-

احتياجي:(اِح-تِ-يا-جي)اسم- حاجت- اړتيا- موتيازي- ضرورت- (م- عربي)-

احتياط:(اِح-تِ-ياط)اسم- (۱) تيات- متيات- خيال- فکر- پام- خبردارے- (۲) حفاظت- ځان ساتنه- (۳)لرې انديشي- ورډېالے- ځان ژغورنه- بيړې نه کېدنه- (۴)ځنګ ته کېدنه (کول/کېدل مصدرونه)- (عربي)-

احتياطي:(اِح-تِ-يا-طي)اسم صفت- دَ احتياط سره متعلق- احتياط سره منسوب-

احد:(اَ-حَد)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱) يو- بې شريکه- (۲)دَ خداۍ پاک نوم- (م- عربي)-

احد:(اُ-حُد)اسم- واحد- مذکر- مدينې سره نژدې هغه غر چرته چې دَ مسلمانانو او قرېشو دويم جنګ شوے وه-

احرام:(اِح-رام)اسم- په ځان حرامونه- دَ حج په ورځو کښې يو څو جائز کارونه په ځان بندونه- لهٔ مقرر خليونو نيت تړنه- (م- عربي)-

احساس:(اِح-ساس)اسم- (۱) په پينځو حواسو کښې لهٔ يو يا زياتو نه کار اخستلو په ذريعه څهٔ معلومونه- (۲)دَ څهٔ خبرې اثر کېدنه- (م- عربي)-

احساساتي:(اِح-سا-سا-تي)اسم صفت- (۱)دَ احساساتو لرونکے- (۲)وېښ- (۳) بېدار- (۴)نامعقول-

احساسول:(اِح-سا-سَ-وَل)مصدر متعدي- په پنځو حواسو کښې لهٔ يو يا زياتو نه کار اخستلو په ذريعه څهٔ معلومول- (۲)دَ څهٔ خبرې اثر کول-

احساسون:(اِح-سا-سَ-وُن)حاصلِ مصدر- وګورئ احساسول-

احساسونکے:(اِح-سا-سَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع احساسونکي- مؤنث احساسونکې- وګورئ احساسول-

احساسونګ:(اِح-سا-سَ-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ احساس-

احساسونه:(اِح-سا-سَ-وَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ احساس-

احساسېدل:(اِح-سا-سې-دَل)مصدر لازم- (۱)په پنځو حواسو کښې لهٔ يو يا زياتو نه کار اخستلو په ذريعه څهٔ معلومېدل- (۲)دَ څهٔ خبرې اثر کېدل-

احساسېدن:(اِح-سا-سې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ احساسول-

احساسېدنګ:(اِح-سا-سې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ احساسول-

ی" (ځی-رل)، ي"(مې-ره-ول)، ی"(ېيا-لی)، ے"(تن-دے) تفصيل دَ پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

احساسېدونکی:(اِح-سا-سې-دون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع احساسېدونکي- مؤنث احساسېدونکې- وګوری: احساسېدل-

احساسېدهٔ:(اِح-سا-سې-دهٔ)حاصلِ مصدر- وګوری: احساسول-

احسان:(اِح-سان)اسم- مذکر- (۱)نېکړه- ښېګڼه- نېکي- (۲)شکر- جمع احسانونه- (کول/کېدل- مصدرونه)-

احسان فراموشي:(اِح-سان-فَرا-مو-شي) اسم مرکب- مؤنث- احسان هېرونه- وګوری: احسان-

احسان من:(اِح-سان-مَن)صفت/فاعل- احسان منونکی- وګوری: احسان-

احسان مندي:(اِح-سان-مَن-دي)اسم- ښېګړه- مننه- ښهٔ منته- وګوری: احسان-

احقر:(اَح-قر)اسم صفت- دَ حقیر اسم تفضیل- (۱)ډېر زیات سپک- (۲)دَ انکسار نه دَ ځان لهٔ پاره استعمالېدونکی توری-

احکام:(اِح-کام)اسم- جمع- مذکر- قانون- دستور- آئین- روش- رواج- (م- عربی)-

احمد:(اَح-مَد)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ډېر حمد کونکی- (۲)دَ رسول کریم صلی الله علیه و سلم نوم مبارک-

احمر:(اَح-مَر)اسم- سور- سور رنګ- جمع احامر- (م- عربی)-

احمری:(اَح-مه-ری)اسم صفت- سور رنګ ته منسوب- (م- عربی)-

احمق:(اَح-مَق)اسم صفت- واحد- مذکر- ناپوهه- بېړا- چاړے- بې وقوف- نادان- جمع احمقان-

احمقانه:(اَح-مه-قا-نه)صفت/متعلق فعل- (۱)دَ حماقت نه ډک- (۲)دَ احمق سره منسوب-

احمق توب:(اَح-مَق-توب)اسم- بې عقلي- سادګي- بې وقوفي- نادانی-

احمق والے:(اَح-مَق-وا-لے)اسم- وګوری: احمق توب-

احمقي:(اَح-مه-قي)اسم- وګوری: احمق توب-

احوال:(اَح-وال)اسم- واحد- مذکر- حال- حالت- دَ حال جمع- خو پښتو کښې واحد استعمالېږی- (م- عربی)-

احول:(اَح-وَل)اسم صفت- واحد- مذکر- کاڼے- کاږینګ- چغر- (م- عربی)-

احیا:(اِح-یا)اسم- ژوندے کونه- (م- عربی)-

اخ:(اَخ)حرف- (۱)دَ افسوس و ارمان کلمه چې دَ څهٔ اندوهناکې پېښې پهٔ وخت بې اختیاره پهٔ خلهٔ راځي- (۲)کله کله دَ نفرت پهٔ ړول او کله کله دَ خوشحالي او تعجب پهٔ موقع هم ویلے شي- اخاه-

اخ:(اَخ)صفت- (۱)دَ صدمې پهٔ نتیجه کښې بې خوده- ملر چیچلے-(۲ اسم)- افسون- منتر- یوه خاصه ټوټه چې ماشومان يې دَ مرګهن مارغهٔ وغیره دَ ژوندي کولو لهٔ پاره کوی-

اخ اخ:(اَخ-اَخ)کلمه دَ ډېر غم یا خوشحالي پهٔ وخت لهٔ خلې وتونکي کلمه-

اخاړ:(اَ-خاړ)اسم- واحد- مذکر- وګوری: اخېړ-

اخاړه:(اَ-خا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- برجه- ګروبے- لپو- پلستر- جمع اخاړې- وګوری: اخېړ-

اخائل:(ا-خا-ئل)مصدر- نیول- ګرفتارول-

اخائي:(اَ-خا-ئي)اسم- واحد- مؤنث- ګرفتاری- نیونه-

اخبار:(اَخ-بار)اسم- واحد/جمع- مذکر- (۱)خبرنامه- (۲)دَ اسلامی شرعې پهٔ اصطلاح کښې دَ حضور صلی الله علیه و سلم دَ احادیثو نه مراد دی- (۲)هغه پرچې چې پهٔ هغو کښې دَ مختلفو ځایونو خبرونه لیکلے شي- ورځپاڼه- جمع اخبارونه/اخبارات- واحد خبر-

اخبار والا:(اَخ-بار-وا-لا)صفت- اخبار سره متعلق- اخبار کښې کار کونکے-

اخباری:(اَخ-با-ری)صفت- اخبار سره متعلق-

اخپور:(اَخ-پور)اسم صفت- خور- خپور- وسیع-

اختتام:(اَخ-تِ-تام)اسم- خاتمه- پای- انجام- آخر-

اختر:(اَخ-تَر)اسم- واحد- مذکر- دَ شوال پهٔ وړومبې او دَ ذی الحج پهٔ لسمه ورځ دَ مسلمانانو دَ خوشحالي جشن چې وړومبے وړوکے او دویم لوی اختر نومېږی- (۲)ستورے- (م- فارسی)-

اختراع:(اِخ-تِ-راع)اسم- لهٔ خانه نوی شے پیدا کونه- ایجاد کونه- دروغ جوړونه-

اختری:(اَخ-تَ-ری)اسم- دَ قربانۍ څاروے-

اختصار:(اِخ-تِ-صار)اسم- خلاصه کونه- لنډونه-

اختصاص:(اِخ-تِ-صاص)اسم- (۱)ربط- وقف- ارتباط- اړه- (۲)صفت- خصوصیت- (۳)بلدتیا- لاس لرنه- (۴)فني علمونو کښې خصوصی مهارت- (انعستان)-

اختلاط:(اِخ-تِ-لاط)اسم- (۱)ګډوډ کونه- یو ځایْ کونه- ګډونه- (۲)ګپ شپ- خبرې اترې-

اختلاف:(اِخ-تِ-لاف)اسم- (۱)مخالف کېدنه- (۲)بېلوالے- توپیر- دَ اتفاق ضد-

اختلال:(اِخ-تِ-لال)اسم- بې نظمي- خرابوالے- ګډوډي- خلل پیدا کېدنه- (م- عربی)-

اخ تو:(اَخ-تُو)اسم صوت- (۱)دَ خراشکی یا دَ بلغم دَ مری نهٔ دَ را بېلولو او توکلو آواز- غاړه تازه کونه- (۲)دَ توکلو آواز- چې دَ نفرت دَ ښکاره کولو دَ پاره استعمالېږی-

اخته:(اَخ-ته)صفت- (۱)لګیا- مصروف- اړم- مکلف- نښتے- مبتلا- (۲)هغه نر څاروے چې ټکولے شوے وی- خصی (کول/کېدل مصدرونه)- (دویمه معنٰی کښې م- فارسی)-

اختیار:(اِخ-تِ-یار)اسم- واحد- مذکر- (۱)وس- طاقت- قابو- خوښه- واک- (۲)دَ اختیارول صفت- وګوری: اختیارول- (م- عربی)-

اختیاردار:(اِخ-تِ-یار-دار)صفت- مذکر- وګوری: اختیار من-

اختیارمن:(اِخ-تِ-یار-مَن)صفت- مذکر- اختیار لرونکے- دَ اختیار خاوند- اختیار مند-

اختیارمند:(اِخ-تِ-یار-مَند)صفت- مذکر- وګوری: اختیار من-

www.pukhto.net

اختيارول:(اِخ-تِ-يا-رَ-ول)مصدر متعدی- خوښول- منتخب کول- ځېلول- پهٔ خپله قبضه کښې راوستل-

اختيارون:(اِخ-تِ-يا-رَ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ: اختيارول-

اختيارونکے (اِخ-تِ-يا-رَه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اختيارونکي- مؤنث اختيارونکې- وګورئ: اختيارول-

اختيارونګ:(اِخ-تِ-يا-رَ-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ: اختيارول-

اختيارونه:(اِخ-تِ-يا-رَ-وَ-نَه)حاصل مصدر- وګورئ: اختيارول-

اختياری:(اِخ-تِ-يا-ري)صفت- دَ خوښې- دَ مرضۍ- دَ وس-

اختيارېدل:(اِخ-تِ-يا-رې-دَل)مصدر لازم- خوښېدل- منتخب کېدل- ځېدل-

اختيارېدن (اِخ-تِ-يا-رې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ: اختيارېدل-

اختيارېدنګ (اِخ-تِ-يا-رې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ: اختيارېدل-

اختيارېدنه (اِخ-تِ-يا-رې-دَ-نَه)حاصل مصدر- وګورئ: اختيارېدل-

اختيارېدونکے:(اِخ-تِ-يا-رې-دُون-کے) اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اختيارېدونکي- مؤنث اختيارېدونکې- وګورئ: اختيارېدل-

اختيارېدهٔ:(اِخ-تِ-يا-رې-دَهٔ)حاصل مصدر- وګورئ: اختيارېدل-

اخ تيخ:(اَخ-تَخ)اسم- جمع- (۱)وګورئ: اَخ توخ- (۲)طنزاً غاړه تازه کونه- (۳)دَ غندنې جوګه حرکت- (۴)توان- وس- اپېو-

اخ توخ:(اَخ-تُوخ)اسم- واحد- مذکر- ټوخنه- ټوخے کونه- د بېدارۍ لهٔ ثبوت د پاره ټوخنه-

اخځ:(اَ-خځ)اسم- وګورئ: اخذ- (افغانستان) (م- عربي اخذ)-

اخذ:(اَ-خَذ)اسم- اخستنه- نتيجه ايستنه- نيونه- (عربي)-

اخذول:(اَخ-ذَ-ول)مصدر متعدی- اخستل- نتيجه ايستل- نيول-

اخذون:(اَخ-ذَ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ: اخذول-

اخذونکے:(اَخ-ذَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اخذونکي- مؤنث اخذونکې- وګورئ: اخذول-

اخذونګ:(اَخ-ذَ-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ: اخذول-

اخذونه:(اَخ-ذَ-وَ-نَه)حاصل مصدر- وګورئ: اخذول-

اخر:(اَ-خِر)اسم صفت- (۱)پهٔ نتيجه کښې پاتې- وروستو- (۲)حد- زې- (۳)قيامت- آخری وخت- (م- عربي)-

اخراج:(اِخ-راج)اسم- ايستنه- ويستنه- (۲)دَ ښار نه شړنه- لرې کونه- (۳) غورځونه- (۴)خرڅ- جمع اخراجات- (م- عربي)-

اخراجول:(اِخ-را-جَ-ول)مصدر متعدی- خارجول- يستل- ويستل- ايستل-

اخراجون:(اِخ-را-جَ-وَن) حاصل مصدر- وګورئ: اخراجول-

اخراجونکے:(اِخ-را-جَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اخراجونکي- مؤنث اخراجونکې- وګورئ: اخراجول-

اخراجونګ:(اِخ-را-جَ-وَنګ) حاصل مصدر- وګورئ: اخراجول-

اخراجونه:(اِخ-را-جَ-وَ-نَه) حاصل مصدر- وګورئ: اخراجول-

اخراجېدل:(اِخ-را-جې-دَل)مصدر لازم- خارجېدل- بهر ته تلل-

اخراجېدن:(اِخ-را-جې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ: اخراجېدل-

اخراجېدنګ (اِخ-را-جې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ: اخراجېدل-

اخراجېدنه:(اِخ-را-جې-دَ-نَه)حاصل مصدر- وګورئ: اخراجېدل-

اخراجېدونکے:(اِخ-را-جې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اخراجېدونکي- مؤنث اخراجېدونکې- وګورئ: اخراجېدل-

اخراجېدهٔ:(اِخ-را-جې-دَهٔ)حاصل مصدر- وګورئ: اخراجېدل-

آخرت:(آ-خِ-رَت)اسم- واحد- مذکر- قيامت- هغه دنيا- هغه عالم چې پس لهٔ مرګه به پکښې د ښو بدو جزا او سزا ورکولے شي- (م- عربي)-

اخرشے:(اَخ-رَ-ښے)اسم- واحد- مذکر- خراشکے يا بلغم-

اخرى:(اُخ-را)د اخر مؤنث- وروستنۍ- (م- عربي)-

اخرى:(آ-خِ-ري)صفت- آخر سره تعلق لرونکے- وګورئ: آخر-

اخرين:(اَخ-رِين)اسم صفت- وروستے- وروستينے- آخرينے-

اخرينے:(آ-خِ-رِي-نے)اسم صفت- جمع اخرينی- وګورئ: آخرين-

اخرېدل:(آ-خِ-رې-دَل)مصدر ترکيبي- وروستے کېدل- ختمېدل-

اخستل:(اَ-خِس-تَل)مصدر- پورته کول- پهٔ لاس کښې ونيول- (۱)پهٔ قيمت پېرل- قبضه کښې راوستل- (۳)غوره کول- حاصلول- (۴)چوڼ کول- (۵)خرېدل- (۶)پهٔ قبضې لرې کول-

اخستلے:(اَ-خِس-تَهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اخستلی- مؤنث اخستلې- وګورئ: اخستل-

اخستن:(اَ-خِس-تَن)حاصل مصدر- وګورئ: اخستل-

اخستنګ:(اَ-خِس-تَنګ)حاصل مصدر- وګورئ: اخستل-

اخستنه:(اَ-خِس-تَه-نه)حاصل مصدر- وګورئ: اخستل-

اخستونکے:(اَ-خِس-تُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اخستونکي- مؤنث اخستونکې- وګورئ: اخستل-

اخستهٔ:(اَ-خِس-تَهٔ)حاصل مصدر- وګورئ: اخستل-

اخستے:(اَ-خِس-تے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اخستي- مؤنث اخستې- وګورئ: اخستل-

اخ سخ:(اَخ-سَخ)کلمه انبساط اسم- (۱)زړهٔ يخېدنه- (۲)پهٔ دښمن دَ مصيبت پهٔ وخت زړهٔ خوشحالېدنه- (۳)دَ حيرت او افسوس پهٔ وخت کښې هم ېکارولے شي- (کول مصدر)-

اخښل:(اَخ-ښَل)مصدر- (۱)اغېل- (۲)خوشتول- (۳) لوندول- (۴)پېر وهل- (۵)مښل- (وزېر)-

اخښلے:(اَخ-ښَهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اخښلی- مؤنث اخښلې- وګورئ: اخښل-

اخښلے ېخښے:(اَخ-ښَلے-ېخ-لے)اسم- (۱) اوړهٔ اخښمه او روڼې پخونه د باورچي خانې يا جارګې يا منهوګې کار- (۲) معامده- خېره پخونه- (کول کېدل مصدرونه)-

اخېن:(اَخ-ېَن)حاصل مصدر- وګورئ: اخېل-

www.pukhto.net

اخښنګ:(اَخ-ښَنګ)حاصل مصدر- وګورئ اخښل-

اخښنه:(اَخ-ښَنَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ اخښل-

اخښنه بخښنه:(اَخ-ښَنَ-نه-بَخ-ښَنَ-نه) اسم مرکب- واحد- مؤنث- دَ جدايي په وخت يو بل ته ورکړې راکړې بخښنه-

اخښې:(اَخ-ښې)اسم- واحد- مذکر- (۱)اوښې- د ښځې ورور- (۲)د خور خاوند- جمع اخښي/اخښيان-

اخطار:(اِخ-طار)اسم- (۱)پرونه- ويرونه- وريادونه- په غوږ وهنه- (۲) خبر- تهديد- (م- عربي)-

اخکل:(اَخ-کَل)مصدر- وګورئ اخښل-

اخلاص:(اِخ-لاص)اسم- (۱)دَ زړهٔ صفائي- بې غرضه دوستي- (۲)دَ قرآن پاک يو سورت مبارک (قُل هُوَ اللّهُ اَحَد)- (م- عربي)-

اخلاص من:(اِخ-لاص-مَن)اسم صفت فاعل- مذکر- اخلاص لرونکے- وګورئ اخلاص- (م- عربي)-

اخلاص مند:(اِخ-لاص-مَند)اسم صفت فاعل- مذکر- وګورئ اخلاص- (م- عربي)-

اخلاصي:(اِخ-لا-صي)اسم صفت- واحد- مذکر- په زړهٔ روغ- سپين زړے- اخلاص من- سپيڅلے- په زړه صفا- (م- عربي)-

اخلاق:(اَخ-لاق)اسم- (۱)دَ خُلق جمع- ښهٔ خويونه او عادتونه- (۲)سړيتوب- انسانيت-

اخلاقاً:(اَخ-لا-قن)متعلق فعل- د اخلاق له مخه-

اخلاقي:(اَخ-لا-قي)اسم صفت- واحد- مذکر- دَ اخلاقو سره متعلق- وګورئ اخلاق-

اخلص مخلص:(اَخ-لص-مُخ-لِص)صفت- توَل په توَل- نهٔ زيات نهٔ کم- توَل تال- مکمّل-

اخله:(اَخ-له/اَخ-لَه)دَ اخستل مصدر نه امر استمراري-

اخله:(اَخ-له)حرف تعجّب- دَ تعجّب کلمه- کله کله اخلے او وخلے هم وئيلے شي- واوا-

اخنډ:(اَ-خنډ)اسم- واحد- مذکر- په سوبرې کښې زرغونېدونکے يو نازک شين بوټے- نباتاتي نوم لاتي سي مېکيانو موبريه (LXTMACYANO MAWARIA)-

اخنک:(اَخ-نک)اسم- جمع- مذکر- د ملخوزو په شان يو ساګ- د شپشتر ساګ- پېشترے ساګ- پشتره- شپېشتکه- ششتره- پېچلره- نباتاتي نوم مېډي کاګوډېنتي کوليټا(MADICAGODENTI COLATA)-

اخوا:(اَ-خوا)اسم اشاره- دَ هغه خوا مخفّف- په هغه لور- هغه پلو-

اخوا دېخوا:(اَ-خوا-دې-خوا)متعلق فعل- اپله دې پله- هغه خوا دغه خوا- هغه دغه- اغه دغه-

اخوانے:(اَ-خوا-نے)صفت- اخوا سره متعلق- جمع اخواني-

اخوت:(اُ-خو-وت)اسم- ورورولي- (عربي)-

اخ و توخ:(اَ-خو-توخ) اسم صوت- مذکر- (۱)غاړه تازه کونه- ټوخے کونه- توخېدنه- (۲)دَ خپلې موجودګۍ اظهار کونه- وګورئ اَخ تخ-

اخ و پوب:(اَ-خو-پُب)اسم- مذکر- قهر- غصه- دبکه- جګړه- وهنه ټکونه-

اخور:(اَ-خور)اسم- واحد- مذکر- دَ څارو دَ ګياه خوراک دَ پاره جوړ کړے شوے ځاے- جمع اخورونه- (ش- فارسي اخور)-

اخون:(اَ-خون)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ جماعت اُستاذ- معلم- (۲)مولا- (۳)بادي شاعر- وګورئ اخوند-

اخوند:(اَ-خوند)اسم صفت- واحد- مذکر- اخون- (۱)ښهٔ سړے- (۲)اُستاذ- (۳)هغه کس چې پلار نيکهٔ ئې عالمان وي- اخونزاده هم ورته وئيلے شي- (۴)دَم ګر- دَم اچونکے- هغه سړے چې په دَم دَ مرض علاج کوي- (۵)بادي شاعر-

اخون زاده:(اَ-خون-زا-ده)اسم- دَ استاذ ځوئ- جمع اخون زادګان-

اخه:(اَ-خه)اسم- واحد- مؤنث- په ديوال کښې وروکے تاخ چې ډيوه پکښې ايښودے شي- جمع اخې-

اخه تخه:(اَ-خه-تَ-خه)اسم صوت- (۱)اخ و توخ- (۲)کپ شپ- خبرې اترې-

اخي:(اَ-خي)اسم صفت- واحد- مذکر- تکړه- پياوړے- نر- توروزن- (۲)نېکو کار- (۲- اسم)ورور-

اخير:(اَ-خير)اسم صفت- وروستے- انتهائي- (۲)توَل- (۳)نژدې- (۴)آخر نه- آخرنے- آخر سره متعلق- (م- عربي)-

اخير:(اَ-خير)اسم- واحد- مذکر- لېو- خاړه- ليېو- وګورئ اخاړه-

اخيرګر:(اَ-خير-ګر)اسم صفت- واحد- مذکر- لېو کونکے- اخيرمار-

اخيرل:(اَ-خي-رَل)مصدر متعدي- خاړه کېدل- خاړه کول- لېو ورکول-

اخيرلے:(اَ-خي-رَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اخيرلي- مؤنث اخيرلې- وګورئ اخيرل-

اخيرمار:(اَ-خير-مار)اسم صفت- واحد- مذکر- جمع اخيرماران- مؤنث اخيرماره- جمع مؤنث اخيرمارې- وګورئ اخيرګر-

اخيرن:(اَ-خي-رَن)حاصل مصدر- وګورئ اخيرل-

اخيرنګ:(اَ-خي-رَنګ)حاصل مصدر- وګورئ اخيرل-

اخيرنه:(اَ-خي-رَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ اخيرل-

اخيرول:(اَ-خي-رَ-وَل)مصدر/فعل متعدي- خاړه کول- لېوول-

اخيرون:(اَ-خي-رَ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ اخيرول-

اخيرونکے:(اَ-خي-رَون-کے)اسم فاعل/صفت- واحد- مذکر- جمع اخيرونکي- مؤنث اخيرونکې- وګورئ اخيرل-

اخيرونکے:(اَ-خي-رَ-وَون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اخيرونکي- مؤنث اخيرونکې- وګورئ اخيرول-

اخيرونګ:(اَ-خي-رَ-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ اخيرول-

اخيرونه:(اَ-خي-رَ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ اخيرول-

اخيرهٔ:(اَ-خي-رَهٔ)حاصل مصدر- وګورئ اخيرل-

اخپستل:(اَ-خپس-تَل)مصدر- وګورئ اخستل-

اخپستل ورکول:(اَ-خپس-تَل-ور-کهـ-وَل)مصدر- (۱)ورکړه را کړه کول- لېن دېن کول- (۲)يو بل سره لاس کول- امداد کول-

اخے کول:(اَ-خے-کهـ-وَل)مصدرِ ترکيبي- اُوښ کېښنول- اوښ څوکول-

ادا:(اَ-دا)اسم- واحد- مؤنث- ناز و ادا- قېنچ- مکېز- جمع اداګانې- (م- فارسي)-

اداب:(اُ-داب)اسم- جمع- مذکر- دَ ادب جمع-

ادات:(اَ-داتْ)اسم- واحد/جمع- (۱)کالي- اوزار- (۲)حروف- (م- عربي)-

ادارت:(ا-دا-رَت)اسم- واحد- مذکر- د اخبار يا رسالې ايډيټري-

ادارتي:(ا-دا-رهـ-تي)اسم- واحد- مذکر- دَ ادارت سره متعلق-

اداره:(اِ-دا-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دفتر- (۲)کار کونکے ټولے- (۳)دفتري کار چلونه- (۴)څانګه- شعبه- (افغانستان) جمع ادارې-

اداري:(ا-دا-ري)اسم- واحد- مذکر- دَ ادارې سره تعلق لرونکے- وګورئ اداره-

اداريه:(ا-دا-ري-يه)اسم- واحد- مؤنث- د اخبار يا رسالې سر مقاله چې د ايډيټر له خوا ګښلے شي-

اداړه:(ا-دا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- دَ کارېز دَ کوی دَ خُلې اُرت والے- داړه-

اداکار:(اَ-دا-کار)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ ډرامې تمثيل کارکونکے- ايکټر- جمع اداکاران- مؤنث اداکاره- جمع مؤنث اداکارانې- (۲- صفت)مکروُن-

اداکاري:(اَ-دا-کا-ري)اسم- فلم يا ډرامه کښې دَ کار کولو فن-

اداموَل:(اَ-دا-مهـ-وَل)مصدر متعدي- سېکنول- پوره کول- ګېډه مړول- پهٔ خپل کور پوره کول-

ادامون:(اَ-دا-مهـ-وُن)حاصلِ مصدر- وګورئ اداموَل-

ادامونکے:(اَ-دا-مهـ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ادامونکي- مؤنث ادامونکې- وګورئ اداموَل-

ادامونګ:(اَ-دا-مهـ-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ اداموَل-

ادامونه:(اَ-دا-مهـ-و-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ اداموَل-

ادامېدَل:(اَ-دا-مې-دَل)مصدر لازم- (۱)سېکنېدل- پوره کېدل- پهٔ ګېډه مړېدل- پهٔ خپل کور پوره کېدل- (۲)پهٔ کچه ګېندو يا تکونو نېمسل- وُدرېدل-

ادامېدن:(اَ-دا-مې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ ادامېدَل-

ادامېدنګ:(اَ-دا-مې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ ادامېدَل-

ادامېدنه:(اَ-دا-مې-دهـ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ ادامېدَل-

ادامېدونکے:(اَ-دا-مې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ادامېدونکي- مؤنث ادامېدونکې- وګورئ ادامېدَل-

ادامېدهٔ:(ا-دا-مې-دهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ ادامېدَل-

ادانت:(ا-دا-نَت)اسم- لوبو کښې داسې طرفدار جوړېدنه يا جانبداري کونه چې څهٔ فائده يا ګټه کښې برخه ورته ورکولے شي-

ادب:(اَ-دَب)اسم- واحد- مذکر- (۱)حيا- پرده- (۲)تربيت- پالنه- جمع ادبونه-

ادب:(ا-دَب)اسم- واحد- مذکر- (۱)تهذيب- (۲)سليقه- (۳)رد کړه- (۴)نظم و نثر- (۵)احترام- (۲)دَ مشرانو د درجې خيال ساتنه- (۷)دَ زنانوُ د کښېناستو ځایْ (وزير)- دَ يو معنو کښې يْ جمع اُبېنه- نورو ځايونو کښې جمع ادبونه-

ادبناک:(ا-دَب-ناکْ)اسم صفت- واحد/جمع- مذکر- ادب کونکے- د بل عزت يا خيال ساتونکے- لحاظ داره- تميز داره- مؤنث ادبناکه- جمع مؤنث ادبناکې-

ادبي:(اَ-دَ-بي)اسم صفت- واحد- مذکر- نظم و نثر سره تعلق لرونکے-

ادبيات:(اَ-دَ-بي-ياتْ)اسم- جمع- مذکر-(۱)د اُدب علم- (۲)ليکلی شوی کتابونه- (۳)د ادبي جمع-

ادر:(اَ-دَر)اسم- واحد- مذکر- (۱)خُودداري- کناره کشي- (۲)کرکه- نفرت- لهٔ خلقو پرهېز-

ادراک:(اد-راکْ)اسم- مذکر- پوهه- قابليت- فهم- پوهېدنه- درک کونه- حسونه-

ادرک:(اَد-رک)اسم- واحد- مذکر- کچه سُنډ- يره جرړه چې خنې پخکړيو او دارو کښې پکارېږي- نباتاتي نوم امونم زنزبيار-

ادرم:(اَد-رم)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)اُړی مار اُس- (۲- اسم)اثر- تاثير- (۳)خل- دَ اُس دَ زين لمڅے-

ادره:(اُد-ره)اسم- واحد- مؤنث- خُټ باد- دُ خايو يو مرض- جمع اُدرې-

ادس:(اَ-دس)اسم- مذکر- کامبيله- خزوه- پهٔ غرهٔ کښې پېدا کېدونکے يو بوټے چې دَ خېټې دَ چينجو دَ بيمارۍ دَ پاره پکارېږي- نباتاتي نوم امونم زنزبيلد-

ادغام:(اد-غام)اسم- دَ يو جنس دوه توري پهٔ څپلو کښې يو ځایْ کونه- (۲)پهٔ علم بيان کښې دَ يو صنعت نوم- (۳)تېرونه- نغرنه- نغړدنه-

ادک:(اَ-دک)اسم- واحد- مذکر- دَ کانی يا ټيکرى پېټو- موسی- هغه ګرد ټيکرے چې چينډرو پرې کولے شي- اډک-

ادکو:(اَ-دهٔ-کو)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ادکه-

ادکه:(اَ-دهٔ-که)اسم- واحد- مؤنث- ادکی- ادکو- (۱)دَ ادې تصغير- (۲)مور ته دَ خطاب توری- جمع ادکې-

ادکی:(اَ-دهٔ-کی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ادکه- جمع ادکې-

ادل بدل:(اَ-دَل-بهـ-دَل)اسم- مذکر- ادله بدله- (۱)بې نظمه- بې قاعدې کړوپ- (۲)دَ څيزونو خپلو کښې يو تر بله تبادله ورکړه راکړه- دَ يو څيز پهٔ عوض بَل څيز اخستنه- (۳)د ترانو تر مينځه جنسي تبادله-

ادله بدله:(اَد-لهـ-بَد-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ادل بدل-

ادلي بدلي:(اد-لي-بَد-لي)اسم- دَ ترانو تر مينځه جنسي تبادله-

اَدم:(اَ-دَم)اسم- واحد- مذکر- دَ آدم خوئ- بنيادم-

ادم خور:(اَ-دَم-خور)اسم صفت- واحد- مذکر- سړی خور- وحشي-

www.pukhto.net

جمع آدم خوارهٔ (مرکّب- م- عربی)-

ادم ذات:(ا-دَم-ذات)اسم- واحد- مذکر- دَ أدم لۀ ذاتهـ- بنیادم- انسان- ادم زاد-

ادم زاد:(آ-دَم-زاد)اسم- وګورئ ادم ذات- (مرکّب- م- عربی)-

ادم صورت:(ا-دَم-صُو-رَت)اسم صفت- مذکر- أدم شکله- دَ بنیادم پهٔ شکل-

ادمے:(آ-دمـ-مے)اسم تصغیر- د ادم اسم تصغیر- بنیادم-

ادمے:(آ-دَ-مے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)دَ ورې سوځې لرونکے سړے- (۲)بادامے-

ادمیت:(أ-دمی-یَت)اسم صفت- انسانیت- سړیتوب

ادنیٰ:(أد-نا)اسم صفت- سپک- ټیټ- دَ اعلیٰ ضد- لږ- کم- بې ارزښته- دَ کمې درجې- لاندینے- پاسو-

ادنا:(أد-نا)اسم صفت- واحد/جمع- مذکر/مؤنث- (۱)بې مثاله- (۲)چې مقابله يې نهٔ شي کېدے-

ادنےٰ:(أد-نا)صفت- لاندینے- دَ اعلیٰ ضد- دَ کمې درجې،کمینه- پاسو- وګورئ ادنیٰ-

ادوار:(أد-وار)اسم- جمع- مذکر- دوروته- د دور جمع- (م- عربی)-

ادوبدو:(أدُو-بـه-دُو)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- تهٔو- پوسېدلے- پږېږ- بوګه بوګه غټ- أوربدو- د زمرڅن چینجي وغیره د چیچلو پهٔ نتیجه کښې پوسېدلے- اوېره پړسېدلے- اده باده-

ادوتر:(أدُو-تر)اسم- (۱)یوه کپړه- (۲)نازبانته او قیمتي څیز- (اسم صفت)-

ادوړے:(ادو-ړے)اسم- واحد- مذکر- دَ غوا یا مېښې پخه رنګ شوې کرمن- سورینه- پخه کړمن- جمع ادوړي-

ادوس:(أ-دوس)اسم صفت- واحد- مذکر- کم دلیله- کم نظره-

ادوم:(أ-دوم)اسم- واحد- مذکر- وورن- دَ زنګون نه تر نغماني (غماتي) پورې د پښې حصه- پتون- رون-

ادون:(أ-دون)اسم صفت- سپک- کمینه- سپوږکے- جمع ادونان- (م- فارسی دون)-

ادوے:(أد-وے)اسم صفت- واحد- مذکر- بیل- جُدا- مؤنث ادوې- جمع ادوي-

ادویه:(اد-وي-یه)اسم- جمع- مؤنث- داروګان- واحد دارو- (عربی)-

اده باده:(أ-دهـ-با-ده)اسم صفت- وګورئ أدوبدو-

اده باده:(ا-دهـ-با-ده)اسم- لاده باده- زور او طاقت- قوّت- (مرکّب)-

ادیب:(ا-دیب)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)أستاذ- (۲)دَ ادب خالق- جمع ادبیان- مؤنث ادیبه- جمع مؤنث ادیباني- (م- عربی)-

ادیبانه:(أ-دي-با-نه)متعلق فعل- د ادیب سره متعلق- ادبي-

ادیره:(ا-دي-ره)اسم- واحد- مؤنث- هدیره- مقبره- قبرستان- مړیستون- جمع ادیرې- (م- عربی- خطیره)-

ادینه:(ا-دي-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د زیارت ورځ- (۲)دَ جمعې ورځ- (م- فارسی)-

ادی:(أ-دی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د پلار یا د مور مور- نیا- (۲)بوډۍ ښځې ته د خطاب توری- (۳)مور ته د غږ کولو کلمه-

ادي اما:(ادي-ا-ما)اسم مرکب- مور پلار- ادی بابا- (۲)میا نیکهٔ-

ادبکار:(ا-دي-کار)اسم صفت- واحد- مذکر- کسب ګر-

ادبکاری:(ا-دي-کا-ري)اسم- مؤنث- کسب- پېشه-

اډېله:(أ-ډې-له)اسم- واحد- مؤنث- اډېله وال- (۱)نیمه پیسه- د تېرې زماني یوه معمولی سکه- (۲)دَ تېرې زماني نیمه روپۍ- اتانیز(مروت)- (م- هندی- دهیلا)-

اډېله وال:(ا-ډې-له-وال)اسم- واحد- مذکر- وګورئ اډېله-

اډېلی:(ا-ډې-لي)اسم- د شیخ ملی دَ وېش مطابق دَ زمکې دَ تقسیم یوه برخه چې دَ نیمې روپۍ یا نیمې پېچې برابر قیمت لري-

اډېوے:(ا-دي-وے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)یوړ زړے- چې څوک يې نهٔ وي- یواځې- (۲)پردے- جمع اډېوي- مؤنث اډېوې-

اډۍ:(ا-ډۍ)اسم- واحد جمع- مؤنث- اډۍ بابۍ- کلي سره نژدې ووړکے پټے- (۲)د زمکو تقسیم- (۳)ربنکی-

اډ:(اډ)اسم- واحد- مذکر- (۱)هډ- غټ هډوکے- (۲)دَ پلار لهٔ خوا خپلولي- (۳)اصل- نسل- پښه- جمع اډونه-

اډاله:(ا-ډا-له)اسم- واحد- مؤنث- دَ کاریز هغه کوهے چې خُلهٔ يې ورانه او ارته وي- سپرغه- ټکه-

اډانه:(آ-ډا-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)چت یا دېوال ته د اړم لګولو دَ پاره استعمالېدونکې ستن- (۲)تکیه- (۳)اعتماد- (۴)وسې، اړکی، ګودرې برورنه، ویشې، بنجنې وغیره چې کرته پرې پټېږي- (افغانستان)-

اډاونه:(ا-ډاو-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د زداني رغاونه- (۲)چوکاټ- (۳)ادائی-

اډرقے:(اډ-رمـ-قے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ خوړلو څښلو نه پس لهٔ کومې نه دَ خُلې پهٔ طرف دَ آزاز سره باد وتنه- اورمے- أروے- اروهے- جمع اډرقي-

اډګ:(اډ-ګ)اسم- جمع- مذکر- هر اوړکے لرونکے اندام-

اډل:(اډل)اسم- پهٔ غوایانو حتې اخستهـ- پهٔ ختو غوایان ګرځونه-

اډماتے:(اډ-ما-تے)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ هډماتے-

اډمار:(اډ-مار)اسم صفت- واحد- مذکر- کبرژن- غره ناک- خان خوښوونکے- مغرور- متکبره-

أډنی:(اډ-ني)اسم- واحد جمع- مؤنث- مخ پټونے- ووړکے څادر- چکلے- ووروپټکے- نقاب- څکالے- سپوټکے- سپوټے- (م- هندی- اوړهني)-

اډو:(أ-ډو)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ هډو-

اډوبډو:(ا-ډو-به-ډو)اسم صفت- وګورئ أدوبدو-

اډوتر:(أ-ډو-تر)اسم- واحد- مذکر- اړه تیره- بندوست- انتظام-

اډوړے:(ا-ډو-ړے)اسم صفت- واحد- مذکر- تیټے- پسته قد- جمع/مؤنث اډوړې- جمع اډوړي-

www.pukhto.net

اړوړے:(اَ-ړو-ړے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ اَروړے- جمع اړوړی-
اړوکے:(اَ-ړو-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ هو/ هوکے-
اړه:(اَ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (١)دَ تانګو او موټرو لارو وغیره دَ ودرولو ځایَ- (٢)دَ ترکانِ دَ ریندي (رندی) لاندي دَ کار تخته- (٣)دَ دمي ځایَ- (۴)دَ بدکارۍ ځایَ- (۵)ډډه- اړخ- جمع اړی-
اړی:(اَ-ړی)اسم- جمع- مذکر- ښفوتي- هغه غنډاری چي په مرۍ کښي پیدا کیږی-
اړیکے:(اَ-ړی-کے)اسم- واحد- مذکر- ګڼ سپوږے لرونکې یوه وَنه- وګورئ اړے-
اړیکے:(اَ-ړی-کے)اسم- واحد- مذکر- سپین خوشبویه ګل لرونکې یوه وَنه-
اړی ګړی:(اَ-ړی-ګو-ړی)اسم- په یوه پښه ګډېدونکې یوه لوبه- کوکاسخے- ارګړے-
اړیګر:(ا-ړی-ګر)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه درېمګړے چي دَ دوو تنو په مېنځ کښي د فیصلې په غرض ناست وی- خو سکته او صفا خبره یو ته هم نهٔ شي کولے او دَ هر یو په خبره اَو کوی- دوه ژبے- دوه زړے- مؤنث اړیګره- جمع اړیګری-
اړین:(ا-ړین)اسم- مذکر- یو دارو چي په زخمونو لګولے شی- ایډین- (ایوډین- انګریزی)-
اړېرل:(اَ-ړي-رل)مصدر- تاخیر کول- ټیل راوستل- ټیل کول-
اړېرنې:(اَ-ړي-رڼلې)اسم صفت- واحد- مؤنث- هغه ښځه چي حمل يُ په حېڼه کښي دَ وخت نه زیات شی-
اړېرلے:(اَ-ړي-رڼلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ اړېرل-
اړېرن:(اَ-ړي-رن)حاصل مصدر- وګورئ اړېرل-
اړېرنګ:(اَ-ړي-رنګ)حاصل مصدر- وګورئ اړېرل-
اړېرنه:(اَ-ړي-رڼه)حاصل مصدر- وګورئ اړېرل-
اړېرونکے:(اَ-ړي-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اړېرونکی- مؤنث اړېرونکې- وګورئ اړېرل-
اړېل:(اَ-ړېل)اسم- واحد- مذکر- (١)دَ کارېز یا حوض په دېوال کښي لګېدلی کاڼی- (٢- صفت)دَ کومی غاړه چي دَ پړسوتو په وجه اَړته شوی وی-
اړېلے:(اَ-ړي-لے)اسم- وګورئ اَړېل-
اړی:(اَ-ړی)اسم- واحد/جمع- مذکر- (١)دَ زمکې یوه حصه- (٢)هغه زمکه چي کروندګر يُ دَ بچو په نامه خلاصه کړی- (٣)دَ کلی په خوا کښي پټے- باړی-
اړے:(اَ-ړے)اسم- واحد- مذکر- (١)هغه لرګے چي اَوهٔ پوستکی لری- (٢)هغه لرګے چي دَ مېچنې دَ پل ګرځولو دَ پاره لګولے شی- تیرک- (٣)دَ ښار ګېر چاپېره قلعه- جمع اړی-
اړے ګوړے:(ا-ړے-ګو-ړے)اسم صفت- واحد- مذکر- بېږن- شل- کجے-
اذان:(اَ-ذان)اسم- واحد- مذکر- (١)دَ نمانځهٔ دَ جمعې دَ پاره دَ را بللو

اواز- بانګ- (٢)دَ چرګ آواز- بانګ- جمع اذانونه- (م- عربی)-
اذکار:(اَذ-کار)اسم- جمع- مذکر- (١)وېناګانې- قصې- بیانونه- (٢)وعظ- (٣)وظیفې- واحد ذکر- (م- عربی)-
اذن:(اِ-ذن)اسم- واحد- مذکر- اجازت- رضا- خوښه- منښه- اوده- دَ دَم درود اچاره-
اذوقه:(اَ-ذو-قه)اسم- واحد- مؤنث- خواړه- توښه- (م- عربی)-
اذیت:(اَ-ذی-یت)اسم- واحد- مذکر- ربړ- خوږ- کړاؤ- (م- عربی)-
ار:(ار)حرف- (١)دَ حیرانې کلمه- دَ تعجّب غږ- دَ طنز کلمه- (٢)دَ خرهٔ دَ چیګولو دَ تحریص کلمه- دَ خرهٔ د بیلولو او شړلو د پاره هم په ځینو ځایونو کښي استعمالیږی-
اراب:(ا-راب)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ایراب-
ارابه:(ا-را-به)اسم- واحد- مؤنث- پټې ته دَ اَبهٔ خور د پاره کنستے لښتے- ذرح-
ارانه:(اَ-را-نه)اسم- واحد- مؤنث- دَ تړوپکو یو ځایَ بار- په تړوپکو سره ګډی پرزي- یو ځایَ نیرونه- (٢)اربه- پایه- درګړ- موځی- تهر- دَ موټره بکې یا د ګاډی پایه- ګاډی-
ارات:(ا-رات)اسم- واحد- مذکر- وګورئ اَرت-
اراخ:(ا-راخ)اسم- واحد- مذکر- (١)وَله- لښتے- (٢)لګېده- شله- جمع اراخونه-
ارادت:(ا-را-دت)اسم- (١)مریدی کوته- (٢)اراده- (٣)اخلاص- ګروهه-
ارادتاً:(اِ-را-دتن)متعلق فعل- په قصد- قصداً- په نیت-
اراده:(ا-را-ده)اسم- واحد- مؤنث- نیت- دَ انتخاب اختیار او فیصلې کولو قوّت او صلاحیّت لو دَ دی استعمال-
ارادی:(ا-را-دی)متعلق فعل- (١)په اراده- (٢)قصدنی- شعوری- قصدی- عمد- قصداً-
اراړه:(اَ-را-ړه)اسم صفت- واحد- مؤنث- تړتړی ژبه- تړتړی- هغه ژبه چي په خبرو کښي نښلی-
اراسته:(ا-راس-ته)اسم صفت- ښکلے شوے- پسوللے- (فارسی آراستن نه اسم معفول)-
اراک:(اَ-راک)اسم- واحد- مذکر- د مسواک وَنه- سانیکړ- پلېونه- پلمن-
اراک:(ا-راک)صفت- مذکر- هوښیار- پوه- مؤنث اراکه- جمع اراکې/ اراکیان-
اراکین:(اَ-را-کین)اسم- جمع- غړی- دَ رُکن جمع- (عربی)-
ارام:(اَ-رام)اسم- مذکر- دَ حرکت نه سکون ته منتقلې- ترار- قلارے- دَ منډې مقابله کښي ورو تګ- دَ ورو تګ مقابله کښي وَدرېدنه- دَ وَدرېدلو مقابله کښي کښېناستنه- د کښېناستلو مقابله کښي ځملاستنه او دَ ځملاستلو مقابله کښي مرکېدنه- (ش- فارسی- آرام)-
ارام:(ا-رام)اسم- مذکر- وګورئ حرام-
ارام تیا:(ا-رام-تیا)اسم- واحد- مؤنث- ارام- فارغ البالی- راحت- سکون- ارام-

www pukhto net

ارامچک:(آ-رام-چک)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)متہونکے- حرامی- (۲)وران ماشوم- شریر ماشوم- شوخ ماشوم-

ارام څوکی:(آ-رام-څو-کی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- ارام دہ- ارام کرسی- هغه کرسی چې بنیادم پرې په قلار کښېناستے شی- ارام چوکی-

ارام طلب:(آ-رام-طـلـب)اسم صفت- واحد- مذکر- ارام غوښتونکے- خان آسان- جمع ارام طلبی-

ارام طلبی:(آ-رام-ط-لـبي)اسم- خان آسانی- سُستی- (م- فارسی)-

ارام کرسی:(آ-رام-کر-سی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- هغه کرسی چې د کښېناستلو سره پرې آرام حاصلیږی- ارام څوکی-

ارام گاه:(آ-رام-گاه)اسم- واحد- مؤنث- دَ آرام ځائ- (م- فارسی)-

ارامول:(آ-را-مه-ول)مصدر متعدی- (۱)دمه ورکول- هوساکول- سیله ورکول- (۲)قرارول- چپ کول- غلے کول-

ارامونے:(آ-را-مو-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ حرامونے/حرامی-

ارامه ارامی:(آ-رامه-آ-را-مي)اسم- مؤنث- پوره قراری- پوره سکون-

ارامی:(آ-را-مي)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)حرامی- (۲)آرام سره متعلق-

ارامېدل:(آ-را-مې-دل)مصدر لازم- (۱)هوساکېدل- (۲)بې غمه کېدل- (۳)چپ کېدل-

ارائش:(آ-را-اش)اسم- ښکلے کونه- ښائسته کونه- ورل سینګار- (کول/کېدل مصدرونه)-

ارب:(ا-رب)اسم- واحد- مذکر- اړه-حاجت- ضرورت- (م- عربی)-

ارب:(ا-رب)اسم عدد- سل کروړه-

ارباب:(ار-باب)اسم- جمع (پښتو کښې واحد)- (۱)پالونکی- دَ رب جمع- (۲)دَ خېلو مومندو داودزیو او کاسیو دَ خانانو خطاب- (م- عربی رب)-

اربشکے:(ار-بش-کے)اسم- واحد- مذکر- یو بې پاڼو صحرائی بوټے چې دَ دارُو په ډول پکارولے شی او اېفېډرین ترې هم جوړیږی-

اربش لو:(ار-بش-لو)اسم- واحد- مذکر- هغه موسم چې دَ اُربشو لو پکښې کېږی- وساک-

اربشه:(ار-بشه)اسم- واحد- مؤنث- دَ اُوړی دَ فصل مشهوره غله او دَ هغې بوټے- نباتاتی نوم هوردیم ولګېر- (۲)عُمر- روزی- جمع اربشې- د یو معنو کښې "سپرووربشه" هم استعمالیږی-

اربشینه:(ار-بشی-نه)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)دَ اربشو څخه جوړه- (۲)دَ اُربشو په رنګ- وګورئ وربشینه-

اربکتیا:(ار-بک-تیا)اسم- واحد- مؤنث- مضبوطونه- مضبوطی- کلکوالے- پوخوالے-

اربکے:(ار-به-کے)اسم- واحد- مذکر- پولیس- پولیس والا- هغه سرکاری ملازم چې دَ امن و امان قائمولو او دَ خلقو دَ حفاظت ذمه وار وی- (افغانستان)-

اربوده:(ار-بو-ده)اسم صفت- موړ- د اوږی ضد-

اربوز:(ار-بوز)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ ځناور پوزه- خلفه- (۲)دَ بنیادم خېره- جمع اربوزونه- وګورئ وربوز-

اربه:(ار-به)اسم- واحد- مؤنث- پله- پټه- جمع اربې-

اربه:(ار-به)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ارابه-

اربېگ:(ار-بېگ)واحد/جمع- مذکر- مړوې- خواته- ترڅنګه- اُوږ ته- څنګ ته-

اربکے:(ار-به-کے)اسم- واحد- مذکر- دَ ځت پاسنی حصه یا مخ- جمع اربکی-

اربکی:(ار-به-کی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- د څادر یا ټغر په څنډو کشیده کاری-

اربپلته:(ار-پې-لـه-ته)اسم- واحد- مؤنث- جمع اربپلتې- لته- پرلتی-

ارت:(ارت)صفت- واحد/جمع- مذکر- فراخ- پراخ- لهٔ بنده آزاد- پلن- مؤنث ارته- جمع مؤنث ارتې-

ارتاو:(ار-تاو)صفت- دَ ارتاوېدل نه صفت- ارتاؤ شوے-

ارتاوز:(ار-تا-وز)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ اړتاؤک-

ارتاوول:(ار-تا-و-ول)مصدر متعدی- غُرخول- کوزارول- ویشتل- پرتاوول-

ارتاوون:(ار-تا-و-ون)حاصل مصدر- وګورئ ارتاوول-

ارتاوونکے:(ار-تا-و-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ارتاوونکی- مؤنث ارتاوونکې- وګورئ ارتاوول-

ارتاوونګ:(ار-تا-و-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ارتاوول- (۲- اسم)- دَ غشی او نښې تر مېنځه فاصله- (۲)یو قسم غشے-

ارتاوونه:(ار-تا-و-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ارتاوول-

ارتاوېدل:(ار-تا-وې-دل)مصدر لازم- غورځېدل- کوزارول- پرېوتل-

ارتاوېدن:(ار-تا-وې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ارتاوېدل-

ارتاوېدنګ:(ار-تا-وې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ارتاوېدل-

ارتاوېدنه:(ار-تا-وې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ ارتاوېدل-

ارتاوېدونکے:(ار-تا-وې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ارتاوېدونکی- مؤنث ارتاوېدونکې- وګورئ ارتاوېدل-

ارتاوېده:(ار-تا-وې-ده)حاصل مصدر- وګورئ ارتاوېدل-

ارتاویز:(ار-تا-ویز)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ اړتاوک- مؤنث واحد ارتاویزه- جمع ارتاویزی-

ارتاویزه:(ار-تا-وي-زه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)فضول خبره- بېهوده خبره- (۲)بې نښې ګولی- (۳)بې توکه حمله- خطا حمله- دَ پټو حمله- اټکلی حمله- جمع ارتاویزې-

ارتاوی:(ار-تا-وی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- یو سُور رنګې مېوه- وګکې- رسکې-

ارت بیرت:(ارت-بیرت)اسم صفت- واحد/جمع- مذکر- (۱)فراخ- پلن او وړُد- ډېر اُرت- (۲)په اُرت د زور اچولو لهٔ پاره سرت دَ لاحقې په توګه

www.pukhto.net

استعماليږي- مؤنث اُرته ببړته- جمع مؤنث اُرتې ببړتې-

ارت خېلے:(اُرت-خې-لے)اسم- واحد- مؤنث- هغه چوړى چې دَ خاندان دَ افرادو نه علاوه نورو خلقو ته هم ورکولے شي- دَ تنگ خېلے ضد-

ارتداد:(ار-تـ-داد)اسم- مذکر- لهٔ اسلامه اوړېدنه- دَ اسلام راړړو نه پس بيا کافر کېدنه- مُرتد کېدنه-

ارتعاش:(ار-تـ-عاش)اسم- مذکر- رېږدنه- لهٔ غصې يا کمزورۍ نه دَ لاس او پښو اضطرارى رعشه- (م- عربى)-

ارتفاع:(ار-تـ-فاع)اسم- مذکر- بلندى- وُچت والے- (م- عربى)-

ارتقا:(ار-تـ-قا)اسم- پورته ختنه- درجه پهٔ درجه ترقي کونه او زياتېدنه- (۲)وده-

ارتقائي:(ار-تـ-قا-ئي)متعلق فعل/صفت- دَ ارتقاً سره متعلق-

ارتکاب:(ار-تـ-کاب)اسم- مذکر- پهٔ يوه اراده عمل کونه- دَ گناه يا جُرم يا دَ غلطۍ کونه- (م- عربى)-

ارت گاه:(ارت-گاه)اسم- واحد- مذکر- ارت ځاۍ- لوۍ ميدان- ډاگ-

ارتگي:(ارت-گي)اسم- واحد- مؤنث- ارت والے- فراخي- ارتوالے-

ارتل:(اُر-تل)مصدر- (۱)مستول- ايله کول- پرانستل- (۲)تيز اچول- هوا پرېښودل-

ارتوالے:(ارت-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- فراخ والے- پراخ والے- لوۍ والے- ارتگي-

ارتول:(اُر-تـه-ول)مصدر متعدى- دَ ارت صفت نه مصدر- پراخول- وسعت ورکول- لوې غورځول- فراخول- پراخول-

ارتون:(اُر-تـه-وَن)حاصل مصدر- وګورئ ارتول-

ارتونکے:(اُر-تـه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ارتونکي- مؤنث ارتونکې- وګورئ ارتول-

ارتونګ:(ار-تـه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ارتول-

ارتونه:(اُر-تـه-وهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ارتول-

ارتيا:(اُر-تيا)اسم- وګورئ ارت والے-

ارتياکه:(ار-تيا-که)اسم- واحد- مؤنث- بې ډېره خبره- نا معقوله خبره- جمع ارتياکې-

ارتينه:(اُر-تي-نه)اسم- واحد- مؤنث- ښځه- عورته- (م- عورتينه- لهٔ عربى عورت څخه)-

ارتېدل:(اُر-تې-دَل)مصدر لازم- پراخېدل- وسعت اخستل- لوې غوړېدل- لوې کوزارېدل- فراخېدل- پراخېدل-

ارتېدن:(اُر-تې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ ارتېدل-

ارتېدنګ:(اُر-تې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ ارتېدل-

ارتېدنه:(اُر-تې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ارتېدل-

ارتېدونکے:(اُر-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ارتېدونکي- مؤنث ارتېدونکې- وګورئ ارتېدل-

ارتېدهٔ:(ار-تې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضى استمرارى د واحد غائب صيغه- وګورئ ارتېدل-

ارت:(اُ-رت)اسم- واحد- مذکر- کومې نه د اُبو راوکښلو دَ پاره يوه څرخى چې لوټکي پکښې لګېدلي وي او عام طور سره د سنډا يا غوايهٔ پهٔ ذريعه چلولے شي-(م- هندى- رهٹ)-

ارت کوټے:(اُرت-کو-ټے)اسم تصغير- واحد- مذکر- وړوکے اُرت- جمع ارت کوټي-

ارټي:(ار-ټي)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)پهٔ يوه خبره ولاړ- سرتمبه- ځېل کوونکے-(۲)ضدى- (۳)تيرن- (۴)معمول بګي-

ارجل:(اُر-جَل)اسم صفت- مذکر- ناخالص- چې بل څيز پکښې ګډ وي- جمع ارجلي- مؤنث ارجله- (۲)هغه اس چې يوه پښه ئې سپينه وي او نورې پښې ئې بل رنګ وي-

اُرجل:(اُر-جل)اسم- واحد- مذکر- د نرۍ پاڼې يو قسم-

ارجل برجل:(ار-جل-بر-جل)اسم صفت- مذکر- (۱)ګرګجه- اروړه- (۲)بې نومه- بې نسبه- اجل بجل- (۲)وګورئ ارجل دويمه معنٰى-

ارجلي:(ار-جه-لي)اسم- واحد جمع- مؤنث- دَ بلوط دَ خاندان يوه ونه چې لرګے ئې لږ سپين رنګ راوړي-

ارجن:(ار-جن)اسم- واحد- مذکر- يو قسم بوټے چې نباتاتي نوم ئې ټرمينليا ارجنه (TERMINALIA ARGUNA)-

ارخي:(ار-خي)اسم- واحد جمع- مؤنث- يو قسم شين بوټے چې پهٔ غنمو کښې پېدا کېږي او کچه خوړلے شي-

ارجه:(ار-جه)اسم- واحد- مؤنث- اچر- د يوې ونې نامه چې د کرښو تيرونه ترې جوړېږي- نباتاتي نوم اَبيز پندرو رائل (ABIES PINDROW ROYLE)-

ارخاړے:(اُر-خا-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ريحے- پهٔ سپرلي کښې دَ ګيډ بېزو دَ کېدو يو مرض- منک- (۲)يو قسم ساګ- ورخاړے-

ارخالک:(ار-خا-لک)اسم- واحد- مذکر- اندرکه- ماټوچ لرونکے يا بې ماټوچ واسکټ- (م- ارخاليق ترکى)-

ارخړېل:(اُر-خړې-يل)مصدر- وګورئ خړېيل-

ارخشے:(اُر-خه-شے)اسم- واحد- مذکر- (۱)سلعم- خراشکے- ګروپے- (۲)سالبوړے-

ارخين:(اُر-خين)مذکر- ساندى- هغه آواز چې ... را پهٔ وخت کښې پهٔ مرى کښې بند شي- نښتے اواز-

ارداسه:(ار-دا-سه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ارداوه- جمع اردابې-

ارداوه:(ار-دا-وه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ارداوه- اوربے- بېوړے- د غوا مېښو لهٔ پاره د اوړو او ابو نه جوړ خوراک- (۲)هغه مانع چې نرمه او رقيقه وي- جمع ارداوې- ش- هندى ارداوه- م- فارسى ارد- اوړه- او اُبهٔ)-

اردل:(ار-دل)اسم- مذکر- خپراس- خدمت-

اردلي:(ار-دلي)اسم صفت- واحد- مذکر- د امر خدمت کونکے- چپراسي

ئ" (ځي-رِل)، ې"(مې-رِه-وِل)، ئې"(ويا-لي)، ئې"(تِن-دې) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

يا سپاهی- (م- انگريزی اردولی)-

اردلي توب:(ا-دَملی-توب)اسم- مذکر- دَ اردلی نوکری او پېشه-

اردم خبر (ار-دم-خبر)اسم- وګورئ مردم خبر-

اردو (ار-دو)اسم- واحد- مؤنث- (۱) سکمش سرکاری رسم- (۲) فوځ- (افغانستان)- (م-ترکی اردو- فوځ)-

ارز (ا-رَز)اسم صفت- کلک- تورعووے- ناسونکے-

ارز (ار-زَ)اسم- واحد- مذکر- (د ماشومانو تورے) لولو کېدنه- للو کېدنه- ودهٔ کېدنه-

اره:(اړه-ړه)اسم صفت- واحد- مؤنث- تنه- چاړی ژبه-

اره:(ار-ړه)اسم صفت- جمع- مؤنث- په جمع- غمه- تول- په اېره- په مېر- په يو ځای-

ارے:(ار-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)وګورئ اړولو- (۲)مورګي- اړے-

ارز:(ارز)اسم- واحد- مذکر- (۱)عزت- احترام- درناوے- دروندوالے- درنښت- (۲)بها- اروښت- بيره- قيمت- بيه- (ش- فارسی)-

ارزان:(ار-زان)صفت- مذکر- کم قيمته- (م- فارسی)-

ارزان بيه (ار-زان-بيه-به)صفت- د کم قيمت- کم قيمته د ارزو بيه-

ارزانتوب (ار-زان-توب)اسم- ارزانی- ارزښت- ارزانښت-

ارزانتيا (ار-زان-تيا)اسم- مؤنث- وګورئ ارزانی-

ارزان پرېوتل (ار-زان-پرې-وتل) ترکيبی مصدر- ارزان ثابتېدل- په قيمت راغورځېدل- (ش- فارسی ارزان)-

ارزان والے (ار-زان-وا-لے)اسم- وګورئ ارزانی-

ارزنول (ار-زا-نه-ول)مصدر متعدی- کم قيمته کول-

ارزانون:(ار-زا-نه-ون)حاصل مصدر- وګورئ ارزانول-

ارزانونکے:(ار-زا-نه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ارزانونکی- مؤنث ارزانونکې- وګورئ ارزانول-

ارزانونګ:(ار-زا-نه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ارزانول-

ارزانونه:(ار-زا-نه-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ارزانول-

ارزانه:(ار-زا-نه)صفت- د ارزان مؤنث- وګورئ ارزان-

ارزانه ارزانی (ار-زا-نه) (ار-زا-نی)اسم- واحد- مؤنث- پوره ارزانی-

ارزانی:(ار-زا-نی)اسم- واحد- مؤنث- د قيمتونو کمے- د بيو ټيټېدنه يا راکوزېدنه-

ارزانېدل:(ار-زا-نې-دل)مصدر لازم- کم قيمته کېدل- قيمت را غورځېدل-

ارزانېدن:(ار-زا-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ارزانېدل-

ارزانېدنګ:(ار-زا-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ارزانېدل-

ارزانېدنه:(ار-زا-نې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ ارزانېدل-

ارزانېدونکے:(ار-زا-نې-دون-کے)اسم- فاعل- واحد- مذکر- جمع ارزانېدونکی- مؤنث ارزانېدونکې- وګورئ ارزانېدل-

ارزانېده:(ار-زا-نې-ده)حاصل مصدر- وګورئ ارزانېدل-

ارزښت:(ار-زښت)اسم- حسن اسم- (۱)قيمت- قدر- څومره والے- (۲)د شخصيت مطابق عزت او احترام-

ارزغه (ار-زغه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ارکانه-

ارزو (ار-زو)اسم- واحد- مؤنث- خواهش- د زړهٔ ارمان- تمنا-

ارزول:(ار-زول)مصدر متعدی- د څهٔ جوګه کول- لائق جوړول- برابرول- مناسبت ورکول- د کار جوګه کول-

ارزومن:(ار-زو-من)اسم صفت- واحد- مذکر- ارزو مند- ارزو لرونکے-

ارزومند:(ار-زو-مند)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ ارزومن-

ارزومندی:(ار-زو-من-دی)اسم- د ارزو مند کېدو حالت-

ارزون:(ار-زون)حاصل مصدر- وګورئ ارزول-

ارزونکے:(ار-زوون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ارزونکی- مؤنث ارزونکې- وګورئ ارزول-

ارزونګ:(ار-زونګ)حاصل مصدر- وګورئ ارزول-

ارزونه:(ار-زو-نه)حاصل مصدر- وګورئ ارزول-

ارزه:(ار-زه)اسم- واحد- مؤنث- عرنځي- د صنوبر ونه- نباتاتي نوم هاني پس را کس برجياني- جمع ارزې-

ارزی:(ار-زی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ عرضی- (م- عرضی فارسی)-

ارزی:(ار-زی)د ارزېدل مصدر فعل حال-

ارزېدل:(ار-زې-دل)مصدر لازم- (۱)لائق کېدل- خرڅېدل- (۲)قيمت موندل-

ارزېدن:(ار-زې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ارزېدل-

ارزېدنګ:(ار-زې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ارزېدل-

ارزېدنه:(ار-زې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ ارزېدل-

ارزېدونکے:(ار-زې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ارزېدونکی- مؤنث ارزېدونکې- وګورئ ارزېدل-

ارزېده:(ار-زې-ده)حاصل مصدر- وګورئ ارزېدل-

ارږل:(ار-ږل)مصدر- ارومې کول- اړوقے کول-

ارږمے:(ار-ږمے)اسم- واحد- مذکر- (۱)وګورئ اروقے/اروے- (۲)د خوب يا ستومانۍ له لاسه له خلې بې واکه اسوېلے وتنه- (۳)افسوس ارمان کونه- اسوېلے کونه- جمع ارږمی-

ارږه:(ار-ږه)اسم- جمع مذکر- وګورئ وارږه-

ارږی بد (ار-ږی-بد)اسم- بد هضمی- د زيات خوراک له کبله سخا اروې کونه-

اروے:(ار-وے)اسم- واحد- مذکر- اروونے- انزانے- ارميږے- ارومے- وګورئ اروملے/اړوقے-

ارسال:(ار-سال)اسم- استول- لېږل- (د کول کېدل مصدرونو سره) (م- عربی- وصل نه د افعال باب)-

ارسی:(ار-سی)اسم- واحد- مؤنث- شش- د ناريانو د ګټې هغه ګټې چې آئينه لري- اسی- عمی-

رسم (ح سهٔ ره)، ووروکے (مثل)، پېښ (فو-کما-ره)، زوبر (که-تاب)، جزم (شکوون)، ۂ (ار-ره)، ۂ (بو-سې-دهٔ)

www.pukhto.net

ارسين:(اَر-سين)اسم- واحد- مذکر- زيړ ګل لرونکے يو بُوټے چې دَ پسرلی په آخر کښې شين کيږی-

ارشاد:(ار-شاد)اسم- مذکر- حُکم- هدايت- لار ښئينه- (عربی کښې مصدر)-

ارشک:(ار-شک)اسم- واحد- مذکر- رخه- بُغض- حسد- جمع ارشکونه-

ارغاړيز:(اَر-غا-ړيز)صفت- مذکر- (۱)منافق- دوه زړے- (۲)چالاک- مکار- مرغاړيز-

ارغاړے:(اَر-غا-ړے)اسم صفت- واحد- مذکر- خوړ- خوږ- مخ په ښکته- جمع ارغاړی-

ارغال:(ار-غال)اسم- واحد- مذکر- الغار- حمله- ايه- (م- ترکی يرغال)-

ارغټ:(اَر-غَټ)اسم صفت- مذکر-غټ- سکټ- ارلګ- (کول/کېدل) قلم کونه- سټکورے کونه-

ارغجه:(اَر-غه-جه)اسم صفت- ارکجه- کږوږ- (م- ترکی ارکجه)-

ارغخنے(اَر-غخ-نے)اسم- واحد- مذکر- (۱)غرګڅه- صحرائے ګټ- لکه شړيه- (۲)دَ پنډی هوړکے-

ارغږ:(اَر-غَږ)اسم- واحد- مذکر- يو کېلی لرونکے بُوټے چې مخ په بره خيژی- عشق پيچان- عشق پېچه- سپيڅه- سپيرچه- پربوټي- پيروټي- نباتاتی نوم هيډ رامبلکس- يو قسم ئے ئې لپومرا کواموس لټ: کواموس لټ ولګيرس هم وائی-

ارغږله:(اَر-غږ-له)اسم- واحد- مؤنث- هغه رسی چې پېر تاؤ ئې خوړلے وی- تيرسرے- دَ ښناورو دَ تړلو رسی- کلېچ پړے- جمع ارغږلې-

ارغښنی:(ار-غه-ګه-ښي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- غرڅنی ګږه-

ارغښنے:(ار-غښ-نے)اسم- واحد- مذکر- دَ غرڅهٔ دَ پښې سپښته- پيړی- بجل-

ارغز:(ار-غز)اسم- واحد- مذکر- غُز- اکوړ- جمع ارغزان-

ارغستلی:(اَر-غس-تښ-لی)اسم- راحد- مؤنث- بې پېمه- بې طوره- نامناسبه خبره- ابلته-

ارغسه:(ار-غه-سه)اسم- راحد- مؤنث- سوره چپلی-

ارغش:(ار-غش)صفت- مذکر- غنم رنګ- د غنم په شان رنګ لرونکے-

ارغشے:(اَر-غه-شے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ارخشے- اخرشے- بلغم- خراشکے- (۲)دَ مری يا غاړې صفا کولو کلر-

ارغمال:(اَر-غه-مال)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ يرغمال-

ارغمک:(ار-غ-مک)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه جاندار چې جسمانی ترقی نهٔ کوی- منځلے- چې وده نهٔ کوی- ټيمرکے- ميټرسپټر-

ارغنج:(اَر-غنج)اسم- واحد- مذکر- الوبالو- ارغنجا- ارغنجال- ارغنجک- ارغنجی- ارغنجيے- د الوچې يو قسم- نباتاتی نوم پرونس پرمينيکا يا د دې نور قسمونه- جمع ارغنجان-

ارغنجا:(ار-غن-جا)اسم- واحد- مذکر- وګورئ اَرغنج-

ارغنجال:(اَر-غَن-جال)اسم- واحد/جمع- مذکر- (۱)وګورئ ارغنج- (۲)ګيلاس-

ارغنجايه:(اَر-غَن-جا-يه)اسم- واحد- مؤنث- دَ الوبخارې له خاندان يوه تروه ميوه- نباتاتی نوم دَ پاره وګورئ ارغنج-

ارغنجک:(ار-غَن-جک)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ارغنج-

ارغنجو:(اَر-غَن-جو)اسم- ځنګلی الوچه- دَ الوچې يو قسم- نباتاتی نوم پرونس ارمينيکا ايل (PRUNIS ARMENIACA "L")-

ارغنجی:(اَر-غَن-جی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ ارغنج-

ارغنجے:(اَر-غَن-جے)اسم- وګورئ ارغنج-

ارغنخه:(اَر-غَن-خه)اسم- واحد- مؤنث- يوه وَنه، چې دَ بلوط خاندان ته نژدې وی- دَ کورکس ايليکس يو قسم- جمع ارغنخې-

ارغند:(ار-غَند)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ ګټو دَ بندونو هوړکی- (۲)تيک- دَ غزانو تيک- جمع ارغندونه-

ارغنړی:(ار-غَن-ړي)اسم- جمع- مؤنث- د يوې لوبې نامه-

ارغوان:(ار-غه-وان)اسم- مذکر- دَ سُور رنګ يو ګل چې خوږ وی- ارغمان-

ارغوانی:(اَر-غه-وا-نی)اسم صفت- دَ ارغوان په شان رنګ- سور رنګ- سور- لال-

ارغوبرغو:(ار-غو-بر-غو)اسم صفت- بُغ- تريو تندے- بټ کوټے- غټه تندے- سپېرهٔ مخ- بروره تندے- ګنجي تندے- پرسېدلې تنډه-

ارغوچ:(اَر-غوچ)اسم- واحد- مذکر- تپاڼکه- يو قسم واښهٔ دے چې بيخ ئې خوږے شی-

ارغوچکه:(اَر-غو-چه-که)اسم- راحد- مؤنث- کالکوچکه- دَ مستی ټوپ- جمع ارغوچکې-

ارغوچېدل:(اَر-غو-چې-دَل)مصدر- دَ يو ځاې نه ټوپ وهل- ټوپلېدل- وڅېدل- الوتل-

ارغوچېدن:(اَر-غو-چې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ ارغوچېدل-

ارغوچېدنګ:(اَر-غو-چې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ ارغوچېدل-

ارغوچېدونکے:(اَر-غو-چې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ارغوچېدونکی- مؤنث ارغوچېدونکې- وګورئ ارغوچېدل-

ارغوچېدهٔ:(اَر-غو-چې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ ارغوچېدل-

ارغوچی:(اَر-غو-چی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دَ غرهٔ په لمن کښې هغه زمکه چې ابهٔ پرې بهيږی-

ارغوګے:(ارغ-رغ-کے)اسم- راحد- مذکر- يوه ګياه- يو قسم واښهٔ-

ارغوش:(اَر-غوش)اسم صفت- مذکر- غنم رنګے- تور غنم رنګے- الغوش-

ارغوشتکه:(ار-غوش-ته-که)اسم- واحد- مؤنث- ټوپ- دانګه- درينچکه- درنچکه- غړدانګه- ارغوچکه- کالکوچکه- جمع ارغوشتکې-

ارغوشول:(ار-غو-شه-ول)مصدر متعدی- سور کول- غنم رنګے کول-

ارغوشون:(اَر-غو-شه-ون)حاصل مصدر- وګورئ ارغوشول-

ارغوشونکے:(اَر-غو-شه-رون-کے)اسم فاعل- راحد- مذکر- جمع ارغوشونکی- مؤنث ارغوشونکې- وګورئ ارغوشول-

ئ" (ښی-رل)، ې"(مې-ره-وَل)، ی"(پښا-ښی)، ے"(تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

ارغوشونګ:(اَر-غو-شه-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ ارغوشول-

ارغوشونه:(اَر-غو-شه-وَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ ارغوشول-

ارغوشېدل:(اَر-غو-شې-دَل)مصدرِ لازم- سُور کېدل- غنم رنګې کېدل-

ارغوشېدن:(اَر-غو-شې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ ارغوشېدل-

ارغوشېدنګ:(اَر-غو-شې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ ارغوشېدل-

ارغوشېدنه:(اَر-غو-شې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ ارغوشېدل-

ارغوشېدونکے:(اَر-غو-شې-دُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع ارغوشېدونکی- مؤنث ارغوشېدونکې- وګورئ ارغوشېدل-

ارغوشېدۀ:(اَر-غو-شې-دۀ)حاصلِ مصدر- وګورئ ارغوشېدل-

ارغولے:(اَر-غو-لے)اسم- واحد- مذکر- الله هو- الله زارى یا بارانو- یوه لوبه چې ماشومان پکښې کور پۀ کور د باران ورېدو د پاره خېر غواړی او دا وائی چې ارغولی یرغولی الله باران و کړې یا تور تورمخے دانې عواړی لۀ خدایه باران غواړی- پۀ سر ګهېره غواړی- امینکو- امینکے- ارګوړے-

ارغومے:(اَر-غو-مے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ورغومے-

ارغونجکه:(اَر-غون-جه-که)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم واښۀ چې پۀ سېرلی کښې د غنمو او اوربشو پۀ پټو کښې کیږی- جمع ارغونجکې-

ارغونځه:(اَر-غون-ځه)اسم- واحد- مؤنث- پۀ زړۀ کښې د غم غُصې غټه- خواهش- ارمان- جمع ارغونځې-

ارغونچکی:(اَر-غون-چه-کی)اسم- واحد- مؤنث- یوه مشهوره لوبه- چلم چټرى-

ارغونچے:(اَر-غون-چے)اسم- مذکر- درى کرېز تار- درى برغېز پېړے- درې لړیز پېړے-

ارغوند:(اَر-غونْد)اسم- واحد- مذکر- دَ بېړیو پۀ لوبه کښې هغه غټه سهېته چې نورې سهېتې پرې ویشتلے شی-

ارغونکے:(اَر-غون-کے)اسم- واحد- مذکر- غونیز پیاز- هغه پیاز چې پۀ غرۀ کښې کیږی- خزی- خېنزه- نباتاتی نوم (URGINEA INDICA)-

ارغونے:(اَر-غو-نے)اسم- وګورئ نرغون-

ارغوے:(اَر-غغ-وے)اسم- واحد- مذکر- ورغومے- دَ لاس تلے- جمع ارغوی-

ارغه:(اُر-غه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ کورنو کوترو یو قسم چې ډېرې الوځی- (۲)مردکی- (۳)سپینته- غټه سپینته (بېړی)-

ارغه:(ار-غه)اسم- واحد- مؤنث- لۀ کاڼۀ وڼلو، سپېرکو، دَ مرغو دَ غلو او ځنې نورو توکو نه جوړ هغه دارو چې ماشومانو ته ئې دَ خوراک دَ پاره دَ یو کال تر عمره ورکوی-

ارغېچل:(اَر-غې-چل)مصدر- مزی کول- تاؤ کول-

ارغېچلے:(اَر-غې-چه-لے)اسمِ مفعول- واحد- مذکر- جمع ارغېچلی- مؤنث ارغېچلې- وګورئ ارغېچل-

ارغېچن:(اَر-غې-چَن)حاصلِ مصدر- وګورئ ارغېچل-

ارغېچنګ:(اَر-غې-چنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ ارغېچل-

ارغېچنه:(ار-غې-چه-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ ارغېچل-

ارغېچونکے:(اَر-غې-چُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع ارغېچونکی- مؤنث ارغېچونکې- وګورئ ارغېچل-

ارغی:(اَر-غی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- کُنه- مقعد-

ارقام:(اَر-قام)اسم- جمع- مذکر- رقمُونه- واحد رقم-

ارکاره:(اَر-کا-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کړکو- کړکی- کټېرى- دَ ترکې لکولو لوښے- هغه کړیچے چې وُړه دسته لری- (۲)دَ اَسپې یا ربړو جوړه هغه ټاپه چې پکښې د مېښکو یا تعویذونو د کښو دَ چکو نمونې وی- د زرګر یوه آله- (۳)دَ ملکانو یو قسم لوبه-

ارکان:(اَر-کان)اسم- جمع- غړی- دَ رکن جمع-

ارکانی:(اَر-کا-نی)اسم- واحد- مذکر- یو قسم ختکے چې غټ پوستکے لری-

ارکبهر کنه:(اَر-کنه-بهر-کنه)صفت- (۱)ټوکرې ټوکرې- (۲)تباه و برباد- کنډ کپر- (۳)خوار و زار-

ارکین:(اَر-کین)اسم- (۱)ورور- (۲)ورور ته د خطاب توری-

ارګ:(اَرګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)قلعه- کوټ- (۲)کابل کښې دَ افغانستان دَ باچا د محل نامه- (م- ترکی ارګ)-

ارکانه:(ار-کا-نه)اسم- واحد- مؤنث- ارزقه- خوراک- خرڅ- نفقه- خورومه- سرومه-

ارګ برګ:(ارګ-برګ)اسم- اړی ګړی- ارګړے- ارګړے-

ارګجه:(اَر-ګه-جه)اسم صفت- (۱)ګډوډ- مخلوط- (۲)دَ یو مرکّب عطر نوم- (ش- ترکی، هندی رګجه)-

ارګجی:(اَر-ګه-جی)اسم- واحد- مذکر- مر رګه- ګډوډ- جمع ارګجیان-

ارګړے:(اَر-ګَ-ړے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ارګوړے/ اړی ګړی-

ارګره:(ار-ګه-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)اس لره پۀ یوه دائره کښې دَ ګېره ګرلو دَ پاره چکرونه ورکونه- (۲)دَ اس زغلولو مېدان- (ورکول/ ورکېدل- مصدرونه)- جمع ارګرې-

ارګنه:(ار-ګه-نه)اسم- واحد- مؤنث- پنجره لرونکے وَر- جمع ارګنې-

ارګوړے:(اَر-ګو-ړے)اسم- واحد- مذکر- دَ یوې لوبې نُوم چې پکښې یوه پېڅه پۀ لاس ونیسی او پۀ بله پېڅه پۀ ټوپونو ځی- اړی ګړی- ارګ برګ-

ارګوړے:(ار-ګو-ړے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ارغولے-

ارګېره:(ار-ګې-ره)اسم- واحد- مؤنث- یو غړنیز بوټے چې سرې سرې دانې نیسی- جمع ارګېرې-

ارلجه:(اَر-لَه-جه)اسم صفت- واحد- مؤنث- بې فائدې او نا معقوله خبره- اوتې بوتې- فضول خبره- ناشولته- بې وقره- نا غوړنده- نوځړنده-

ارلچې برلچې:(اَر-لَه-چې-بَر-لَه-چې)متعلق فعل- (۱)انګتې بنګتې- ارلېچې برلېچې- لاس لګونه- امبر چمبر- خبرې کېدنه- منګلې کېدنه- (۲- صفت)ارحل برحل-

ارلګ:(ار-لَګ)اسم صفت- (۱)زِږ- غټ- چورلټ- بیخی لۀ مونږه- لۀ بېخه-

www.pukhto.net

سکتہ۔ (۲۔ متعلق فعل)۔ پوري راپوري۔

ارلګ ارلګ:(اَر-لَګ-ار-لَګ)صفت۔ بېل بېل۔ (شايد الګ الګ)۔

ارلۍ:(اَر-لۍ)اسم۔ واحد/جمع۔ مؤنث۔ (۱)اربندی۔ خربندی۔ (۲)دَ لارې دَ بندولو دَ پاره يو وړد لرګے ايښونه۔

بندولو دَ پاره يو وړد لرګے ايښونه۔

ارم:(اِ-رم)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)دَ هغه باغ نوم چې شدّاد جوړ کړے وو۔ (۲)جنّت۔

ارمان:(اَر-مان)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)دَ خواهش دَ نۀ پوره کېدو پۀ نتيجه کښې دَ محرومۍ احساس۔ (۲)شديد خواهش۔ ارماند۔ جمع ارمانونه۔

ارماند:(اَر-ماند)اسم۔ وګورئ ارمان۔

ارمانژن:(اَر-مان-ژن)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ ارمان لرونکے۔ ارماني۔

ارمانول:(اَر-ما-نه-وَل)مصدر۔ څۀ پسې ارمان ښکاره کول۔

ارمانون:(اَر-ما-نه-وَن)حاصلِ مصدر۔ وګورئ ارمانول۔

ارمانونکے:(اَر-ما-نه-وون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع ارمانونکي۔ مؤنث ارمانونکې۔ وګورئ ارمانول۔

ارمانونګ:(اَر-ما-نه-ونګ)حاصلِ مصدر۔ وګورئ ارمانول۔

ارمانونه:(اَر-ما-نه-وَنه)حاصلِ مصدر۔ وګورئ ارمانول۔

ارماني:(اَر-ما-ني)اسم صفت۔ وګورئ ارمانژن۔

ارمانېدل:(اَر-ما-نې-دَل)مصدرِ لازم۔ څۀ پسې ارمان ښکاره کېدل۔

ارمانېدن:(اَر-ما-نې-دَن)حاصلِ مصدر۔ وګورئ ارمانېدل۔

ارمانېدنګ:(اَر-ما-نې-دَنګ)حاصلِ مصدر۔ وګورئ ارمانېدل۔

ارمانېدنه:(اَر-ما-نې-دَنه)حاصلِ مصدر۔ وګورئ ارمانېدل۔

ارمانېدونکے:(اَر-ما-نې-دُون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع ارمانېدونکي۔ مؤنث ارمانېدونکې۔ وګورئ ارمانېدل۔

ارمانېدۀ:(اَر-ما-نې-دۀ)حاصلِ مصدر۔ وګورئ ارمانېدل۔

ارم توتيا:(اِ-رم-تو-تيا)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)يو بې ازغيو بوټے چې دَ ليچنو سترګو دَ پاره تری دارو جوړيږی۔ دَ دې بوټي جرړی رنجو کښې هم استعماليږی۔ (۲)يو قسم زنګ اکسائيډ۔

ارمتے:(اَر-مه-تے)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ ګړندے۔ برندے۔ بيړندے۔ چټک۔ چاغ۔ چت۔ چابک۔ تُند۔ تادی کونکے۔ جلتي کونکے۔ تلوار کونکے۔

ارمته:(اَر-مه-ته)اسم صفت۔ واحد۔ مؤنث۔ غريبه او بې وسه ښځه۔ کُنډه۔

ارمچک:(اَرم-چک)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ اَرامچک۔

ارمړ:(اَر-مړ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وزيرستان کښې دَ هغې قبيلې نوم چې دَ بايزيد انصاری ورسره تعلق وۀ۔

ارمړی:(اَر-مه-ړی)صفت۔ (۱)ارمړ سرۀ متعلق۔ (۲)اسم۔ دَ ارمړو ژبه۔

ارمز:(ار-مز)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دَ جنتری دَ مياشتو اوله ورځ۔ وګورئ هرمز۔ (م۔ ژند)۔

ارمغان:(اَر-مَ-غان)اسم۔ (۱)سوغات۔ تُحفه۔ هديه۔ (۲)ډالۍ تيبالی۔ (۲)خُوښي۔

ارمغاني:(اَر-مَ-غا-ني)اسم صفت۔ دَ ډالۍ پۀ طور دَ پېشکش پۀ توګه۔ بښکشی۔ سوغاتي۔

ارمکے:(اَر-مَ-کے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دَ شپنو خاصه لښته۔ ډنډی يا چوکه۔ دانګه۔ کوتنۍ۔

ارمل:(اَر-مل)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د لينځر غُنډي يوه وِنه چې عام طور سره پۀ عرومو کښې پېدا کيږی۔ نباتاتی نوم نيکس کلوم کريتها [illegible]

ارمل خرمل:(اَر-مَل-خَر-مَل)اسم صفت۔ جنګ ته تيار۔ غصه۔ تهربدلے۔

ارمن:(اَر-مَن)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ امبور۔

ارمند:(ار-مَند)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ جمع ارمندينه۔ وګورئ ارمان۔

ارمنے:(ار-مه-نے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ ګنده بوټے، چې پۀ يولو پېتو کيږی څاروی ئې نۀ خوری۔ پۀ پڼيو ئې دَ خوانګو علاج کيږی۔ زمرکے۔ ژړګولے۔

ارموسته:(ار-موس-ته)اسم۔ جمع۔ مؤنث۔ کڼه۔

ارمولے:(اَر-مو-لے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دَ ماشومانو يوه بيماری۔ وګورئ اورمولے۔

ارمولے ماتول:(ار-مو-لے-ما-ته-ول)ترکيبي مصدر۔ پۀ يوه خاصه طريقه د اورمولی علاج کول۔

ارموني:(ا-ره-مو-ني)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ ببلی۔ هغه بېضوی لرګے چې د رندی د پلۀ د بنوبولو او اړونو د ساره کار تری اخستے شی۔

ارمونے:(ا-ره-مو-نے)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ خيرالبيان کښې راغلے توری۔ اوس متروک دی۔ وګورئ حرامونے۔

ارمونيا:(اِر-مو-ني-يا)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (افغانستان)هارمونيم۔ دَ ګتو ساحه۔

ارمېړے:(اَر-مې-ړے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ اورمے۔ جمع ارمېړی۔

ارمېر:(اَر-مېر)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ ورمېر۔ جمع ارمېرونه۔

ارنډ:(ا-رنډ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ ارمېډه۔

ارنډه:(ا-ر-ډه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ جمع ارنډی۔ وګورئ ارمېډه۔

ارنۍ:(ا-ره-نۍ)اسم۔ مؤنث۔ (۱)مړ پۀ تشويش تلاش۔ مرنۍ۔ ګبنۍ۔ لېوال توب۔ تلوسه۔ (۲)دَ اَرنے مؤنث۔

ارنے:(ا-ره-نے)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ حرص۔ حرصناک۔ لالچي۔ جمع ارني۔ جمع مؤنث ارنۍ۔

اروا:(ار-وا)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ روح۔ ساه۔ (م۔ ارواح۔ عربی)۔

اروا ښکلے:(ار-وا-ښکلے)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ اروا زوے۔

ارواح:(اَر-واح)اسم۔ جمع۔ مؤنث۔ (پښتو کښې واحد)۔ دَ روح جمع۔ (۱)ساه۔ ځان۔ (۲)نيت۔ خواهش۔ روح۔ (م۔ عربی)۔

اروا خوار:(ار-وا-خوار)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ اروا زوے۔ جمع ...۔ مؤنث اروا خوا...۔

ی (ئی-رل)، ې (هې-وه-ول)، ۍ (يبا-لي)، ے (تن-ويږ) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www pukhto net

اروا‌ړی:(ار-وا-ړي)اسم- واحد،جمع- مؤنث- توري توري داني لرونکے یو بوټے چي د غنمو په فصل کښي کیږي-

ارواښاد:(ار-وا-ښاد)اسم- واحد- مذکر- مرحُوم- مړشوے- (افغانستان)-

اراوغښ:(اَر-وا-غښ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)غاوره- بي مروته- غټ نظرے- لويُ نظرے- لوئ چارے- (۲)اروا‌وړے- وږسترگے- نهٔ مړیدونکے- جمع ارواغښي- مؤنث ارواغښي-

اروالے:(اَر-وا-لے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)اصیل- شریف- (۲- اسم)- شرافت- اصیل توب-

اروا‌وړے:(ار-وا-وړے)اسم صفت- وګورئ اروا‌وړے-

اروا‌وړے:(ار-وا-وړے)اسم صفت- واحد- مذکر- وږسترگے- حریص- شوم- لالچي- اراخک- اراخوار- جمع اروازري- مؤنث اروا‌وړي-

اروته:(اَر-و-ته)اسم- واحد- مؤنث- ښځه- عورته- جمع اروتې-

اروړ:(اَ-روړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)بغض- رخه- کینه- حسد- (۲)حمکان- جمع اروړونه-

اروړ ژبے:(اَ-روړ-ژ-بے)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه څوک چي ژبه يُ نښلي- چاړا- تړتړے- جمع اروړ ژبي- مؤنث اروړ ژبې-

اروړه:(اَ-رو-ړه)صفت- مؤنث- کډمډ- ګډوډ- په مختلفو توکو مشتمل- ارکجه-

اروړه توب:(اَ-رو-ړه-توب)اسم- واحد- مذکر- د اروړه کېدو حالت-

اروړي:(اَ-رو-ړي)صفت- د اروړ سره متعلق-

اروړے:(اَ-رو-ړے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)بد مزاجه- جنګیالے- تېز طبیعته- تریو تندے لرونکے- (۲)ضدي- په یوه خبره ټینګ ولاړ- جمع اروړي- مؤنث اروړې-

اروړي:(اَ-رو-ړي)اسم- واحد،جمع- مؤنث- (۱)د غوا مېښي کږه ځرمن- (۲)اسم صفت)- د 'اروړے' مؤنث-

اروژے:(اَ-رو-ژے)اسم صفت- واحد- مذکر- اَروا‌وړے- وږ ستوګے-

اروسي:(اَ-رو-سي)اسم- واحد،جمع- مؤنث- وګورئ اوسي هوسي-

اروسي:(اَ-رو-سي)اسم- واحد- مؤنث- هغه خوراکه (پروړی) چي د مړي کور والو ته د خپلو خپلوانو له خوا تر دریمي شپي پورې ورکولے شي- ترخه- د غم پروړی-

ارومرو:(اَ-رو-مه-رو)متعلق فعل- مرو مرو- خواه مخواه- ضرور-

ارون بیرون:(اَ-رون-بي-رون)اسم صفت- وګورئ ارون درون-

ارون درون:(اَ-رون-د-رون)اسم صفت- دننه بهر- ورچپے او نته- ارون بیرون-

اروندے:(ار-ون-دے)اسم فاعل- واحد- مذکر- اورېدونکے- مخاطب- جمع اروندي-

اروڼے:(ار-و-ڼے)اسم- واحد- مذکر- غوږ- د اُبو ولمه (د بر سوات لهجه)-

ارول:(اَ-ره-ول)مصدر- بېلول-

اروول:(ار-و-ول)مصدر- د اُروول بل قرائت- وګورئ اورول-

اروولے:(ار-و-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اروولي- مؤنث اروولې- وګورئ اروول-

اروون:(ار-و-ون)حاصل مصدر- وګورئ اروول-

اروونکے:(ار-و-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اروونکي- مؤنث اروونکې- وګورئ اروول-

اروونګ:(ار-و-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ اروول-

اروونه:(ار-و-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ اروول-

اروونے:(اَر-و-و-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اروونی- مؤنث اروونې- وګورئ اروول-

اروی:(ار-وی)فعل حال- له ارویدل فعل حال واحد جمع غائب-

اروېدل:(ار-وي-دل)مصدر- د اورېدل بل قرائت-

اروېدن:(اَر-وي-دن)حاصل مصدر- وګورئ اروېدل-

اروېدنګ:(ار-وي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ اروېدل-

اروېدنه:(اَر-وي-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ اروېدل-

اروېدونکے:(ار-وي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اروېدونکي- مؤنث اروېدونکې- وګورئ اروېدل-

روېدهٔ:(ار-وي-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ اروېدل-

روے:(ار-وے)اسم- واحد- مذکر- بنګالو- ورو آواز- کشار-

اره:(اَ-ره)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)پانبداره- (۲- اسم)بنیاد- بېخ- اصل-

ره:(اَ-ره)اسم- واحد- مؤنث- د ترکاڼانو د لرګی پرېکولو غاښي لرونکی آله- حمری- ځره-

اره دوبلاره:(اَ-ره-دو-بلا-ره)اسم صفت- ځیری ویری- اره شوي-

اره کش:(اَ-ره-کش)اسم- واحد- مذکر- (۱)اره کسی اره- (۲- صفت)هغه سړے چي په اره لرګی ځیری- جمع اره کشان- مؤنث اره کشه-

اره کولی:(اَ-ره-کو-لي)اسم- واحد- جمع- یو قسم قراقلی (اکره کولی) پوسکے-

اره کی:(اَ-ره-کي)اسم تصغیر- وړه اره-

ارهټ:(ار-هټ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ اَرټ-

ارهټ:(ار-هټ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ اَرټ-

ارهر:(ار-هر)اسم- واحد جمع- مذکر- (۱)یو قسم بوټے چي د غنمو جوارونه کېږ چاپېره په غاړه کرلے شي او اکثر د خشاک په ترګه استعمالولے شي- جیبجر- جبنجن- یو قسم دال- نباتاتي نوم سائے تي سس کیجن-

ارهنده:(ار-هن-ده)اسم- واحد- مؤنث- یو بوټے چي له تخم يُ کاسټرپل وځي- رنډه- ارنډه- ارنډ- نباتاتي نوم رسي نس کیمونس RICINUS COMMUNIS- جمع ارهندي-

آری:(آ-ری)اسم- واحد- مؤنث- ششې- ششت- هغه آئینه لرونکې کتې چي په کته کته اچولے شي- (ارسی- م- فندی)-

اری:(آ-ری)اسم- واحد- مذکر- دوه کمونه لرونکے اوښ-

www.pukhto.net

ارياب کرياب:(ار-ياب-کر-ياب)اسم صفت- واحد- مذکر- حېران دريان- حق حېران- پرېشان-

ارياش:(اَر-ياش)اسم- واحد- مذکر- پېروے ملاتې- د پيو په سر رش-

اريان:(اَر-يان)اسم صفت- (۱)بې وسه- خوار- غريب- محتاج- موتازه- بې وزله- (۲)هک پک- حېران متعجب-

اريانتيا:(اَر-يان-تيا)اسم- وګورئ حېرانتيا-

اريان دريان:(اَر-يان-دَر-يان)اسم صفت- وګورئ اريان-

اريانول:(اَر-يا-نه-وَل)مصدر متعدی- وګورئ حېرانول-

اريانولے:(اَر-يا-نه-وَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اريانولی- مؤنث اريانولې- وګورئ حېرانولے-

اريانون:(اَر-يا-نه-وَن)حاصل مصدر- وګورئ حېرانول-

اريانونکے:(اَر-يا-نه-ورن-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اريانونکی- مؤنث اريانونکې- وګورئ حېرانول-

اريانونګ:(اَر-يا-نه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ حېرانول-

اريانونه:(اَر-يا-نه-ونه)حاصل مصدر- وګورئ حېرانول-

اريانه:(اَر-يا-نه)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)هغه ښځه چې خاوند ترې خفه وي- (۲)هکه بکه- (۳)د اريان مؤنث-

ارياني:(اَر-يا-ني)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ حېراني-

اريانېدل:(اَر-يا-نې-دل)مصدر لازم- وګورئ حېرانېدل-

اريانېدلے:(اَر-يا-نې-دَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اريانېدلی- مؤنث اريانېدلې- وګورئ حېرانېدل-

اريانېدن:(اَر-يا-نې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ حېرانېدل-

اريانېدنګ:(اَر-يا-نې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ حېرانېدل-

اريانېدنه:(اَر-يا-نې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ حېرانېدل-

اريانېدونکے:(اَر-يا-نې-دَون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اريانېدونکی- مؤنث اريانېدونکې- وګورئ حېرانېدل-

اريانېده:(اَر-يا-نې-ده)حاصل مصدر- وګورئ حېرانېدل-

اريان:(اَر-يان)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه اواره خر چې خرو پسې ګرځي-

اري بيري:(اَ-ري-بي-ري)اسم- واحد- مؤنث- (۱)اصل معنی اخوا دېخوا- (۲)د ماشومانو يوه لوبه- کوکړے- شلغاتې- شلاتې- توپنې-

اريب:(اَ-ريب)اسم- واحد- مذکر- (۱)دوست- ملګرے- رفيق- (۲)حريف- د جوارۍ ملګرے- جمع اريبان- مؤنث اريبه- (م- حريف)-

اريچه:(اَ-ري-چه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ريچه- جمع اريچې-

اريږ:(اَ-ريږ)اسم- واحد- مذکر- (۱)د ارټ د بياستو تر مېنځه لرګے- (۲) يو قسم مټانې-

اريړه:(اَ-ري-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)هليله- يوه مېوه چې په دارو کښې پکاريږي- نباتاتي نوم ترمي نيلياچيبولا(TERMINALIA CHEBULA)- (۲)د پرتوګانو سر ته يو خاص قسم غټه- جمع اريړې-

اريړي:(اَ-ري-ړي)اسم- جمع- مؤنث- هغه واړه واړه لرګی چې د ارټ په بملسته کښې انهول وی او لوټکی پړی پورې تړلے شي-

اريښت:(اَ-ريښت)اسم- واحد- مذکر- (۱)اختلاف- مخالفت- اصرار- (۲)زور- (۳)تاکيد- ټينګار-

اريک شريک:(اَ-ريک-شريک)اسم- مل- شراکت دار- شريک-

اريکپن:(اَ-ري-کپن)اسم- واحد- مذکر- لال ټپن- لاټپن- (م- انګريزی هری کېن)-

اريناٸے:(اَ-ري-نا-ٸے)اسم- واحد- مذکر- پل- پايه-

اريومے:(اَر-يو-مے)اسم- جمع- مؤنث- رومبی- ربمې- د بنيادم له نامه لاندې ويښته- فرض- (م- هندی- روان)-

ارېښے:(اَر-ښے)اسم- واحد- مذکر- (۱)اروړے- لکی ور ګډ- (۲)وچه ترشه سبزی چې رواش ورته وائی-

اری:(اَ-ري)اسم- واحد جمع- مؤنث- لور- کاتری- غابن لرونکے لور-

اری:(اَ-ري)اسم- جمع- مؤنث- وګورئ ايری-

اری باری:(اَ-ري-با-ري)اسم- جمع- مؤنث- وګورئ ايری باری-

ارے:(اَ-رے)اسم- واحد- مذکر- لکی لرونکے پسه- جمع اری-

آړ:(آړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)ايسارتيا- بنديز- پابندی- (۲)ښنائی- (۳)شرط-

اړ:(اَړ)اسم صفت- واحد- مذکر- محتاج- پامته دار- موتازه- کبر-

اړ:(اړ)اسم- اماړ- د بکرمی کال دريمه مياشت-

اړ:(اړ)اسم- واحد/جمع- مذکر- د ځنګلی لرګو کاروبار- اير- مير-

اړ:(اړ)اسم- واحد- مذکر- پېل کونکے- منع کونکے-

اړ:(اړ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)بد- شوخ- وارخطا- (۲)ايسار- (۳)ښکر اړمونه (اسم)-

اړ:(اړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)بغض- کينه- حسد- ضد- (۲)پېچش- نس خوږے- (۳)دښمنی- (۴)مغمه- قيصی اچونه- (۵)توتائے-

اړا:(اَ-ړا)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)شوخ چشم- (۲)لېوڼی- (۳)وارخطا- سردائی-

اړام:(اَ-ړام)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)سپين سترګے- بې باکه- شوخ سترګے- (۲)شيطان-

اړامکے:(اَ-ړام-کے)اسم تصغير- واحد- مذکر- جمع اړامکی- (۱)کڼهه- مچک- (۲)د اړم اسم تصغير-

اړامنه:(اَ-ړام-نه)اسم- مؤنث کستاخی-

اړاند:(اَ-ړاند)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)مشغول- اخته- بلد- نښتے- کېر- لګيا- هراند- (۲)په جنګ شوے-

اړاز:(اَ-ړاز)اسم- واحد- مذکر- (۱)په اُبو کښې کېدونکے د نمريز وېلنی په شان يو سور رنګے بوټے- پلپلک- جړاب- (۲)زياتے- بېروالے-

اړاو دوړ:(اَ-ړو-دوړ)اسم- (۱)تېزی- تندی- (۲)جنګ جګړه- بلوه-

اړانی:(اَ-ړا-نی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مُحتاجي- (۲)قحط-

اړابستل:(اَړ-ابس-تَل)مصدر- (۱)مجبورول- اړکول- ایسارول- بندول- راګېرول- (۲)په کوړکی، دام، لومه وغیره کښې د مارغانو نیول-

اړابستلے:(اَړ-ابس-تـه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اړابستلی- مؤنث اړابستلې- وګورئ اړابستل-

اړابستن:(اَړ-ابس-تَن)حاصلِ مصدر- وګورئ اړابستل-

اړابستنګ (اَړ-ابس-تنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ اړابستل-

اړابستونکے:(اَړ-ابس-تُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اړابستونکی- مؤنث اړابستونکې- وګورئ اړابستل-

اړابسته:(اَړ-ابس-تَه)حاصلِ مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ اړابستل-

اړباسل:(اَړ-با-سَل)مصدرِ متعدی- مجبوره کول- مجبورول- موتازه ول- کارته تېنګول- په زور لګیا کول- څهٔ خبرې ته نیول-

اړباسلے:(اَړ-با-سه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اړباسلی- مؤنث اړباسلې- وګورئ اړباسل-

اړباسن:(اَړ-با-سَن)حاصلِ مصدر- وګورئ اړباسل-

اړباسنګ:(اَړ-با-سنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ اړباسل-

اړباسونکے:(اَړ-با-سُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اړباسونکی- مؤنث اړباسونکې- وګورئ اړباسل-

اړبنګ:(اَړ-بنګ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)بې پروا- (۲)اړتاوک- (۳)کم عقل- کاواک- بربنګ- بکواسی- بې وقوفه بې حیا- (۴)بنګلے- بانسته-

اړبه:(اَړ-به)اسم- واحد- مذکر- شهون- مؤنث اړبنه-

اړبې اړبې:(اَړ-بې-اَړ-بې)صفت- خوارهٔ بې وازدې- چیچړې- د غوښې سره ونښلے شی-

اړپ:(اَ-ړپ)امر- چپ- د چپ کولو له پاره حکم-

اړپی:(اَړ-پی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)سنګلز بکس- (۲)د کالو د ایښو صندوقچے- (۳)یوه دروازه لرونکے کوټ چې ډېر محفوظ وی-

اړت:(اَ-ړت)اسم- واحد- مذکر- چرنجه- نکه- خرنجه- اخلال-

اړت:(اَ-ړت)اسم- واحد- مذکر- (۱)په منډی کښې د مال د مزدوری اړت یا دړ- دستور- د منډی کاروبار- (هندی- اړهت)-

اړتاز:(اړ-تاز)اسم مفعول/صفت- مذکر- اړتاز- پربوتے- غرځېدلے- سکور- پرمخ- پرتاز-

اړتاوک:(اَړ-تا-وَک)اسم صفت- اړتاویز- بې فکره- کاواک- لرتاوز- مؤنث اړتاوکه- جمع اړتاوکی-

اړتاوکه:(اَړ-تا-وه-که)اسم- واحد- مؤنث- سرسری- مسې- قیاسی- جمع اړتاوکې-

اړتاوکې:(اَړ-تا-وه-کې)جمع- مؤنث- واحد اړتاوکه- بابېړې- د دروغو دوزې- اړتاویزې- فضول خبرې- بې واکه خبرې-

اړتاوول:(اَړ-تا-وه-وَل)مصدر متعدی- غرځول- ګوزارول-

اړتاوون:(اَړ-تا-وه-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ اړتاوول-

اړتاوونکے:(اَړ-تا-وه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اړتوونکی- مؤنث اړتاوونکې- وګورئ اړتاوول-

اړتاوونګ:(اَړ-تا-وه-وَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ اړتاوول-

اړتاوونه:(اَړ-تا-وه-وَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ اړتاوول-

اړتاوے:(اَړ-تا-وے)اسم صفت- واحد- مذکر- مجبور- بې وسه-

اړتاویز:(اَړ-تا-ویز)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ اړتاوک-

اړتاویزې:(اَړ-تا-وی-زې)اسم- جمع- مؤنث- وګورئ اړتاوکې-

اړتاوېدل:(اَړ-تا-وې-دَل)مصدر لازم- پرېوتل- غرځېدل- ګوزارېدل-

اړتاوېدن:(اَړ-تا-وې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ اړتاوېدل-

اړتاوېدنګ:(اَړ-تا-وې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ اړتاوېدل-

اړتاوېدنه:(اَړ-تا-وې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ اړتاوېدل-

اړتاوېدونکے:(اَړ-تا-وې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ اړتاوېدل-

اړتاوېده:(اَړ-تا-وې-ده)حاصلِ مصدر- وګورئ اړتاوبدل-

اړت خوړت:(اَ-ړت-خ-ړت)اسم صفت- وګورئ اړتو پړتو-

اړت دړت:(اَړت-دړت)اسم- واحد- مذکر- په منډی کښې د اړتی او دړوانی حرفه-

اړت غوړت:(اَ-ړت-غ-ړت)اسم صفت- وګورئ اړتو پړتو-

اړتوب:(اَړ-توب)اسم صفت- واحد- مذکر- اړتیا- موتازی- اړی- اړیا کېدنه- موتازه کېدنه- ضرورت-

اړتو پړتو:(اَړ-تُو-پړ-تُو)صفت- مذکر- اړت خوړت- ټکی بړکی- هغه دغه- بې مطلبه- بې معنې- لټې باټې- ټال متول- یو غو بل غږ- بد نظمی- اړبته خړبته- اړت غوړت-

اړتوکے:(اَړ-تو-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- بې شرمه- بې لحاظه- سپین سترکے- بې حیا- اړام-

اړتی:(اَړ-تی)اسم صفت- واحد- مذکر- د اَړت کار کونکے- په اُجرت، کمېشن، فیس وغېره د خلقو او سوداګرانو مالونه خرڅونکے- دلال- ایجنټ- دړوانی- سوداګر-

اړتیا:(اَړ-تیا)اسم- مؤنث- (۱)اړانی- محتاجی- (۲)قحطی- وګورئ اړتوب-

اړتیب:(اَړ-تیب)اسم- واحد- مذکر- اتوب- لېټی- شیره- نرمه حلوا- اتیب- لېوی-

اړخ:(اَ-ړخ/اَړخ)اسم- واحد- مذکر- (۱)خوا- طرف- پلو- پوه- څنګ- (۲)د تحرک او پړوی تر مېنځه ځائې- (۳)احتیاط- د ځان لرې ساتنه-

اړخ په اړخ:(اَړخ-په-اَړخ)مرکب- (۱)غاړه په غاړه- (۲)څنګه په څنګه- څنګ په څنګ-

اړخدار:(اَړخ-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- غاړه لرونکے- اړخیز-

زور ”(ح-سهٔ-ره)، زورکے ”(شل)، پېښ ”(تو-ګاسره)، زېبر ”(کـ-تـاب)، جزم ”(شکون)، ”هٔ“(ز-وهٔ)، ”ټ“(دوسبې-دهٔ)

www pukhto net

اړخک:(اړ-خک)اسم- (۱)ښکار دَ کړکۍ لورى ته شړنه- (۲)اړونه-
اړخن:(اړ-خن)اسم صفت- واحد- مذکر- اړخيز- طرفونه لرونکے- اړخدار-
اړخير (اړ-خير)اسم صفت- واحد- مذکر- طرفونه لرونکے- اړخن- اړخدار-
اړخيزه:(اړ-خي-زه)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)اړخ لرونکې- اړخنه- (۲-اسم)- لۀ يو خوا- کوه خبره- طرف ژنه خبره- لۀ يوه طرفه- جمع اړخيزې-
اړخيزه تماچه:(اړ-خي-زه-تـه-ما-چه)اسم- واحد- مؤنث- هغه تماچه چې کابنې يې د پکولو د پاره يو اړخ ته وخي-
اړخې:(اَړ-خې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)دَ غرۀ لمن پۀ ترخ زمکه- دَ غرۀ پټے- بورى- بکلے- لوړيې- (۲)اړنى ښتى-
اړداوه:(اړ-دا-وه)اسم- واحد- مؤنث- وکورئ اړداوه- (م- فارسى اړد- اوړه اوه ابۀ)-
اړدنے:(اړ-دۀ-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- خرڅ کونکے- صارف-
اړدو:(اَړ-دو)حرف- پۀ دوو کښې- دواړه-
اړښه:(اَړ-ښه)اسم- واحد- مؤنث- جمع اړښې- (۱)ټټے پله- (۲)سينه-
اړک:(اړ-ک)اسم صفت- واحد- مذکر- ناراسه- ضدى- مؤنث اړکه- جمع اړکې-
اړکينه:(اړ-کي-نه)اسم- واحد- مؤنث- دَ لرګى نلوه- جمع اړکينې-
اړکېدل:(اړ-کې-دَل)مصدر/فعل لازم- (۱)مُحتاجه کېدل- مشغولېدل- (۲)ايسارېدل-
اړکېدن:(اَړ-کې-دَن)حاصل مصدر- وکورئ اړکېدل-
اړکېدنګ:(اړ-کې-دَنګ)حاصل مصدر- وکورئ اړکېدل-
اړکېدنه:(اَړ-کې-دَنه)حاصل مصدر- وکورئ اړکېدل-
اړکېدونکے:(اَړ-کې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اړکېدونکى- مؤنث اړکېدونکې- وکورئ اړکېدل-
اړکېدۀ:(اَړ-کې-دۀ)حاصل مصدر- وکورئ اړکېدل-
اړکې:(اَړ-کې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)کوړکى- لټ- ښکر- دام- (۲)لينګته- (۳)بندش-
اړکې:(اړ-کې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- هغه لرګے چې پۀ چت کښې بل لرګے ايسار کړى-
اړکې:(اړ-کې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- د کوټې يا لارې هغه غاړه چې بلې کوټې پله تلل شي-
اړکے:(اَړ-کے)اسم- واحد- مذکر- جمع اړکى- (۱)ژغونوے- (۲)دَ اندرپاتي پاتکے- دَ پورى پايه- (۳)دَ رباب غوړے- (۴)دَ کوټې د تير ستن- (۵)اَړم- دَ يو څيز دَ ټينګولو دَ پاره بله اَسره- (۷)غرګه- کړى- لاړے- لهړے- برګه-
اړکے:(اَ-ړه-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ لرګى هغه تخته چې دَ اوبدلو پۀ وخت کښې دَ تنستې پۀ مينځ کښې شکته پورته ځى او دَ هغې پۀ وجه تنسته کښې تار خاى نيسى- (۲)دَ لرګى هغه تخته يا تختې چې پۀ

اړوتونکے:(اړ-وه-تُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اړوتونکى- مؤنث اړوتونکې- وکورئ اړوتل-
اړوتۀ:(اَړ-وه-تۀ)حاصل مصدر- وکورئ اړوتل-
اَړو دوړ:(اَ-ړو-دَوړ)اسم- واحد- مذکر- هله ګله- بدلون- انقلاب-
اړوښتے:(ا-ړوښ-تے)اسم صفت- واحد- مذکر- بچت- جمع وارى- پنګه از ربومه- پاسره- پانګه-
اړوک:(ا-ړوک)اسم- واحد- مذکر- بغض- کينه- دښمنى- ضد- جمع اړوکونه- غم- ميرځى-
اړول:(ا-ړه-وَل)مصدر متعدى- (۱)لاندې نه باندې يا بره نه لاندې کول- (۲)پۀ بل مخ کول- (۳)تاوه ول- (۴)نېغول- (۵)لۀ يوې لارې نه پۀ بله کرځول- (۶)دَ څۀ مايع څيز غرځول- (۷)اکږه چوکول- (۸)يوې کول- (۹)لۀ خپله ځايه بې ځايه کول- (۱۰)دَ ښځې يا لاس اړوکے پۀ زور بې ځايه کول-
اړول واړول:(اَ-ړه-وَل-وا-ړه-وَل)مصدر- (۱)پرته سپوته کول- (۲)لاندې باندې کول- (۳)ګډوډکول- (۴)بې ترتيبه کول- (۵)پړمخ کول- (۶)اصرار سره پښته کول-
اړولے:(اَ-ړه-وَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اړولى- مؤنث اړولې- وکورئ اړول-
اړون:(ا-ړه-وَن)حاصل مصدر- وکورئ اړول-
اړون:(ا-ړوَن)اسم- مذکر- (۱)احتياج- ضرورت- مرتازه کېدنه- (۲)لېتى- متانى- شيرينى-
اړون تړون:(اَ-ړوَن-تـه-ړوَن)اسم مرکب- واحد/جمع- مذکر- (۱)تعلق- رشته- خپلولى- (۲)وعده- لوظ- تړل-
اړونج:(اَړ-ونج)اسم- واحد- مذکر- (۱)ستن- ستنې- ميه- تمبه- خنډ- (۲)اساس- بنياد- بنست- بيخ- ربخ- (۳)پايه- مقام- جمع اړونجونه-
اړونج:(اَړ-ونج)اسم- واحد- مذکر- پېچېدګى-
اړوند:(اَړ-وند)اسم صفت- واحد- مذکر- وکورئ اړاند- جمع اړوندې- مؤنث اړونده- جمع مؤنث اړوندې-
اړونس:(اَړ-ونس)اسم- واحد- مذکر- نارې سره پۀ داج کښې راغلې ګړه-
اړونکے:(ا-ړه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اړونکى- مؤنث اړونکې- وکورئ اړول-
اړونګ:(اَ-ړه-ونګ)حاصل مصدر- وکورئ اړول-
اړونګ:(اړ-ونګ)اسم- شالمک- يو څيز پۀ بل معمولى شان تم کونه- ورته کونه- نژدې کونه-
اړونه:(اَ-ړه-ونه)حاصل مصدر- وکورئ اړول-
اړووښت:(اَ-ړو-وښت)اسم- جمع- مؤنث- اړوښت- اړيښت- تاژ کړې خبرې- بيغې نيغې خبرې- اړوپيچ خبرې-
اړوونکے:(اَ-ړه-وون-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ مختلفو لوبو دَ پاره

ئ" (ئى-رل)- ي"(هي-ره-ول)- ى"(پيا-لي)- ے"(تن-دے) تفصيل د پاره وکورئ تشريحات صفحه ۱

اړنګ بړنګ:(اَ-ړَنګ-بَه-ړَنګ)اسم صفت- پرېشان- حېران- بې بنده- بې وسه- وسواسي- سوداني- متردد- (۲)خر- خینګ- (۳)تش تور-

اړنګتي:(اَ-ړَنګ-کَه-تي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- د پهلواني په اصطلاح کښې يو داؤ چې پکښې د حريف د پښو تر مېښنځه پښه ايښوې او حريف را ګوزاروليے شي- ننګتي- اړنګي- ړنګتي- (م- هندي- اړنګا)-

اړنګ دوړنګ:(اَ-ړَنګ-دَو-ړَنګ)اسم صفت- مذکر- (۱)بې تولې- (۲)کوږوږ-

اړنګ لاندے:(اَ-ړَنګ-لان-دے)اسم صفت- شکمن- شکي- مشتبه- اړنګمن-

اړنګ من:(اَ-ړَنګ-مَن)اسم صفت- شکي- شکمن- اړنګ لاندے-

اړنګو بړنګو:(اَ-ړَنګ-کو-بَه-ړَنګ-کو)اسم صفت- شلې والې- کوږوږ- شاړې واړې- په تالو- شاولې واولې-

اړنګي:(اَ-ړَنګ-ګي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ اړنګتي-

اړو:(اَ-ړو)اسم- واحد/جمع- مذکر/مؤنث- هغه ځاروے چې په ځنګل کښې واش لويَ شوے وي-

اړوالے:(اَړ-وا-لے)اسم- وګورئ اړتيا-

اړوب:(اَ-ړوب)اسم- واحد- مذکر- (۱)لېټۍ- اړوبے- اتوب- (۲)نرمه- نرۍ خټه- چيکړ- اخېړ- خړوب- ګړوبے- (۳)بې خونده پخکړے-

اړوب خړوب:(اَ-ړوب-خَه-ړوب)اسم صفت- لوند خوېشت- لبت پېت- بېر لوند- په خټو اَبو لړلے- ښهٔ پښه شوے- خوشت پوشت-

اړوبے:(اَ-ړو-بے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ اړداوه-

اړوپېر:(اَ-ړو-پېر)صفت- واحد/جمع- مذکر- (۱)لکه د پېرې يو بل سره نښتے- (۲)نښتے- (۳)پېر مخ- اپوټه-

اړوپېچے:(اَ-ړو-پې-چے)اسم- (۱)لګړ وړ ګنډنه- (۲)د جنګ جګړې خبرې- کرې وړې خبرې-

اړوپېڅ:(اَ-ړو-پېڅ)اسم صفت- واحد/جمع- مذکر- (۱)اړوپېر- تاڼ راتاڼ- اړاوپېڅ لړونکے- کوږوږ- کوړاکوړ- (۲)ګران- (۳)غڼې غڼې- کاږهٔ وارهٔ-

اړوت:(ا-ړوت)اسم صفت- واحد- مذکر- بربخ- بد خويه- غصه ناک-

اړوتې:(ا-ړو-تې)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)تړون- موافقه- وعده- عهد- (۲)چل- تېر ورکونه-

اړوت خړوت:(اَ-ړوت-خَه-ړوت)اسم صفت/مرکب- وګورئ اړيته خريته-

اړوت غړوت:(اَ-ړَوت-غَ-ړَوت)صفت مرکب- حيلې بازې- اټې بازې- چل ول- هغه دغه- اړيته خريته-

اړوتل:(اَړ-وَه-تَل)مصدر- موتاژه کېدل- محتاجه کېدل- پامته داره کېدل- ګېرېدل- ايساربدل- مجبوربدل- حېرانېدل- اړکېدل- بنديدل-

اړوتلے:(اَړ-وَه-تَه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اړوتلي- مؤنث اړوتلې- وګورئ اړوتل-

اړوتن:(اَړ-وَه-تَن)حاصل مصدر- وګورئ اړوتل-

اړوتنګ:(اَړ-وَه-تَنګ)حاصل مصدر- وګورئ اړوتل-

اړوتنه:(اَړ-وَه-تَه-نَه)حاصل مصدر- وګورئ اړوتل-

ماتو هډوکو پورې تړلے شي- (۲)هغه لرګے چې دوه برغه رسۍ تر مېنځه ئ د بار تړلو د پاره اچوي-

اړکے اړکے:(اَړ-کے-اَړ-کے)صفت- مات شړے- ټوټې شوے- وران ويجاړ-

اړکے:(اَړ-کے)اسم- واحد- مذکر- بېزګورے- وړے- ورغومے- جمع اړکي-

اړم:(ا-ړَم)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)لګيا- مصروف- په څهٔ کار کښې اخته- په جنګ- (۲)سرکش- سرزورے- (۳)نښتے- انږول-

اړم:(اَ-ړَم)اسم- واحد- مذکر- (۱)غټ لرګے يا اَسپنه چې د دروازې شاته د مظبوطۍ د پاره ايښوے شي- (۲)درد- پيچ-

اړمکے:(اَ-ړَم-مَه-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)د ژرندې د پلهٔ لرګے- د ګانړې اړم- (۲)د ګړبه لرګے- (۳)ښوا- جمع اړمکي-

اړمول:(ا-ړَم-مَه-وَل)مصدر متعدي- (۱)لګيا کول- مصروفول- په څهٔ کار کښې اخته کول- (۲)په جنګ کول- نښلول- (۳)د څهٔ څيز غېر معمولي چوکه کول- (۴)پېچ کول- (۵)انږول کول- (۶)سرزوري کول-

اړمون:(اَ-ړَم-مَه-وَن)حاصل مصدر- وګورئ اړمول-

اړمونکے:(اَ-ړَه-مَه-وَن-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اړمونکي- مؤنث اړمونکې- وګورئ اړمول-

اړمونګ:(اَ-ړَم-مَه-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ اړمول-

اړمونه:(اَ-ړَم-مَه-وَ-نَه)حاصل مصدر- وګورئ اړمول-

اړمېدل:(اَ-ړَم-مې-دَل)مصدر لازم- (۱)لګيا کېدل- مصروفېدل- په څهٔ کار کښې اخته کېدل- (۲)جنګېدل- (۳)د څهٔ څيز غېر معمولي چوکه کېدل- (۴)انږول کېدل- (۵)پېچ کېدل- (۶)سرزوري کېدل-

اړمېدن:(ا-ړَم-مې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ اړمېدل-

اړمېدنګ:(اَ-ړَم-مې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ اړمېدل-

اړمېدنه:(اَ-ړَم-مې-دَ-نَه)حاصل مصدر- وګورئ اړمېدل-

اړمېدونکے:(اَ-ړَم-مې-دَون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اړمېدونکي- مؤنث اړمېدونکې- وګورئ اړمېدل-

اړمېدهٔ:(اَ-ړَم-مې-دَهٔ)حاصل مصدر- وګورئ اړمېدل-

اړمے:(ا-ړَم-مے)اسم- واحد- مذکر- د دروازې د بندولو لرګے- اَړم- جمع اړمي-

اړناوي:(اَړ-نا-وي)اسم- واحد- مذکر- دولت- بډاني- شتهٔ مني-

اړندے بړندے:(اَ-ړَن-دے-بَه-ړَن-دے)اسم صفت- واحد- مذکر- اړندے ګړندے- (۱)تندرست- صحت مند- (۲)چلت- چابک- چټک- بيړندے- (۳)په ترړه- په تراټ- په پويه- په روال-

اړندے ګړندے:(اَ-ړَن-دے-ګَه-ړَن-دے)اسم صفت- مذکر- وګورئ اړندے بړندے-

اړنګ:(اَ-ړَنګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)وربخ- جمع اَړنګونه- (۲)انار- اولنګ- اونګ- اننګوړے- انارګوړے-

اړنګ:(ا-ړَنګ)اسم- واحد- مذکر- وسواس- تردد- شک-

زبر"(خ-بَه-رَه)، زورکے"(شل)، پېش"(نو-کا-رَه)، زمر (کِ-تاب)، جزم"(شکوني)، ه(رَ-ړَه)، ۂ(پو-سې-دَهٔ)

www.pukhto.net

يو نوم چې لاندې ليکلی لوبې پکښې لعمې دی (۲)دَ پېړيو شپېشتو لوبه، (۳)دَ زمری لوبه، (۴)دري ګټې، (۵)ړنده خره، (۶)بلوله، (۷)پټ‌اسکې- (۸)لهٔ اړول مصدر نه اسم فاعل-

اړووني:(أړ-وو-ني)اسم صفت- واحد- مؤنث- پلړيګره کوونتره- اړوني کوونتره- تېپتې کوتره- لټ پټې-

اړه:(أ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خواست- غښتنه- (۲)ضرورت- حاجت- منت- سوال- (۳)ضد- خودسری- (۴)مراد- (۵)اړی- دَ اړهٔ دوېمه لهجه- (۶)نيستې- (۷)ګډه- (۸)سره-

اړه:(أ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)بندېز- بندښت- بند- (۲)تعلق- رابطه- (۳)ايسارېدنه-

اړه:(أ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)نوکری- شکری- کمرانۍ- کاره- تنۍ- پيمانه- (۲)دَ استانه دارو يا استکرانو د فصل پهٔ سر عوضانه- تړون- ماورد- (۳)سو- پهٔ برخه زمکه ورکونه-

اړه تړه:(أ-ړه-تړه)اسم- واحد- مؤنث- تيارۍ- سمبالونه- سمونه- بندوبست- وضه- تړنه-

اړه ګوړه:(أ-ړه-ګو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- الهٔ ګوله- غلبله- شورزوږ- بد انتظامي- اړې ګړې-

اړه مار:(أ-ړه-مار)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)چارې کار-چړې کار- پهٔ برخه زمکه کرونکې- (۲)اړه اخستونکې- ستانه دار-

اړه ماری:(أ-ړه-ما-ری)اسم- واحد- مؤنث- چارې کاری- چړې کار- پهٔ برخه زمکه کرنه-

اړو ومانده:(أ-ړو-ومان-ده)اسم صفت- مؤنث- حاجت- ضرورت- اړتيا- موتازي- تنکسيا-

اړی:(أ-ړی)اسم- جمع- مؤنث- توسې- دَ ملکانو يوه لوبه چې پهٔ ورو ورو ژغنيږيو يې کوی-

اړی:(أ-ړی)اسم- وګوری: اړه-

اړی:(أ-ړی)اسم- واحد- مؤنث- موتازي- ضرورت- صرفه- خوامش- حاجت- غښتنه- غواړنه-

اړی:(أ-ړی)اسم- مؤنث- ضد- خپل- دَ تک پهٔ وخت دَ ګاروی اړوبېخ-

اړيا:(أړ-يا)اسم صفت- (۱)حاجت من- موتاژه- مجبور- (۲)بند- (۳)جنګ- نښته- لاس لګونه- (۴)ګډ-

اړيا:(أړ-يا)اسم صفت- واحد- مذکر- نښتې- امبر چمبر- اړم-

اړيا:(أړ-يا)اسم صفت- واحد- مؤنث- هغه مېنه چې کرمه شوی وی- چې وارې راړوې دی-

اړيت خوړيت:(أ-ړي-ت-خو-ړي-ت)اسم- وګوری: اړت خوړت-

اړيته خړيته:(أ-ړي-ته-خه-ړي-ته)اسم مرکب- ورانې- ګډ خبره وراتونه- خټو اچونه- اړوت ځړوت- خړيته- افراتفري- ګډوډي- بد نظمي-

اړيخې:(أ-ړي-خې)اسم- واحد- مذکر- دَ آرام کولو ځای-

اړير:(أ-ړير)صفت- نژدې-

اړير:(أ-ړير)اسم- مذکر- تکه-

اړيژن:(أ-ړي-ژن)صفت- وګوری: اړيمار-

اړيسه:(أ-ړي-سه)اسم صفت- ورورست- خوړين-

اړيشت:(أ-ړيشت)اسم صفت- وګوری: اړووشت-

اړی ګړه:(أ-ړی-ګ-ړه)اسم- تعلق- لين دين-

اړيم:(أ-ړيم)اسم صفت- پهٔ لامبلو کښې دَ لوبو پهٔ ورل پهٔ يو بل أبهٔ اچونه- أبهٔ چپې کونه- أبهٔ شتنه- دَ أبو جنګ کونه- ايلې- آب بازی-

اړيمار:(أ-ړي-مار)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)بارکښې کووړلرګې- اړی کونکې- (۲)اړی کونکې آس- مؤنث اړيماره- جمع مؤنث اړيمارې-

اړيماره:(أ-ړي-ما-ره)اسم- واحد- مؤنث- اړی کونکی آسپه- جمع اړيمارې-

اړيماری:(أ-ړي-ما-ری)اسم- (۱)دَ آس يا اسپې دَ اړی کولو حالت- (۲)دَ لاتجې مار سړی دَ لاتجې جوړولو عادت-

اړين:(أ-ړين)صفت- واحد- مذکر- تابع- ضروری-

اړينکو پړينکو:(أ-ړين-کو-پ-ړين-کو)اسم صفت- جمع- مذکر- وګوری: اړنکو پړنکو-

اړينه:(أ-ړي-نه)اسم- اړيسته- اړتيا- اړون-

اړيه:(أړ-يه)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)دَ دوو پولو پهٔ مينځ کښې وړوکه زمکه- اړې- ليکې- نری- جمع اړيې- (۲)ګرفتاری (اسم)-

اړيه:(أړ-يه)اسم- واحد- مذکر- اختلاف- نښته- برخلافي- جمع اړيې-

اړييا:(أ-ړي-يا)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ضد کوونکې- اختلاف لرونکې- (۲)فرق کوونکې-

اړي بکړي:(أ-ړي-بک-ړي)اسم- جمع- مؤنث- دَ ماشومانو لوبه چې دَ سهووسي پهٔ رڼا کښې کيږی يو پکښې پکيارښي او نورې کړې کوي ځان ژغوری او شرمخ يې دَ را نيولو کوشش کوی-

اړيجی:(أ-ړي-جي)اسم- جمع- مؤنث- شېطانۍ- ورانې- وران کاری-

اړيدل:(أ-ړي-دل)مصدر- (۱)لهٔ يوې خبرې اوښتل- منع کېدل- (۲)ترټنېدل- (۳)دَ أبو مخ ګرځېدل- (۴)تړوپ وهل-

اړېدل:(أ-ړي-دل)مصدر لازم- (۱)محتاجېدل- اړکېدل- کريابېدل- بې وسه کېدل- (۲)بندېدل- ښندېدل- (۳)مجبورېدل-

اړېدلې:(أ-ړي-دلې)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اړېدلي- مؤنث اړېدلې- وګوری: اړېدل-

اړېدن:(أ-ړي-دن)حاصل مصدر- وګوری: اړېدل-

اړېدنګ:(أ-ړي-دنګ)حاصل مصدر- وګوری: اړېدل-

اړېدنه:(أ-ړي-دنه)حاصل مصدر- وګوری: اړېدل-

اړېدونکې:(أ-ړي-دون-کې)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اړېدونکي- مؤنث اړېدونکې- وګوری: اړېدل-

اړېدهٔ:(أ-ړي-دهٔ)حاصل مصدر- وګوری: اړېدل-

ئ" (ځي-ړل)، ې"(مې-ړه-ول)، ی"(پيا-لی)، ے"(تن-دے) تفصيل دَ پاره وګوری تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

اړپړی:(اَ-ړپ-ړی)مؤنث- وګورئ اړپړی-

اړپستل:(اَ-ړپس-تَل)مصدر- موتازه کېدل- ناچاره کېدل-

اړپستن:(ا-ړپس-تَن)حاصل مصدر- وګورئ اړپستل-

اړپستنګ (ا-ړپس-تَنګ)حاصل مصدر- وګورئ اړپستل-

اړپستنه (ا-ړپس-تَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ اړپستل-

اړپستونکے :(ا-ړپس-تون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اړپستونکی- مؤنث اړپستونکې- وګورئ اړپستل-

اړپستهٔ:(ا-ړپس-تهٔ)حاصل مصدر- وګورئ اړپستل-

اړپکے:(اَ-ړي-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)تړون- رشته- ملګرتیا- (۲)دَ دروازې اَړم- (۳)بندېز- (۴)قبض کېدنه- (۵)هغه لرګے چې دَ اَرټ په چکر کښې لوېکے یا دروازې ایساروی- جمع اړپکی-

اړی:(اَ-ړی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- پیاړمه- پهاړی- پچواړی- پړپکه- (۱)دَ پټو پوله- (۲)دَ سپهار مونې-

اړی:(اَ-ړی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- مېنه-

اړی:(اَ-ړی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- مقابله-

اړے:(ا-ړے)اسم- جمع- مذکر- اوړه-

اړے:(ا-ړے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لوړے- جمع اړی-

اړے:(اَ-ړے)اسم- واحد- مذکر- جمع اَړی- اَړم- هغه لرګے چې څهٔ څیز ته دَ پښتی پهٔ غرض ودرولے شی-

اړے ګړے:(اَ-ړے-ګَ-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)انقلاب- غوبمنډ- (۲)شور و غوغا- غوبل- (۳)بدامنی- وراني- بلوه- شوروشر- (۴)ګړبړ- هله ګله- باچاګردی-

ازاد:(ا-زاد)اسم صفت- واحد- مذکر- ازادې- (۱)خپله ټوکېدلے بوټے- خودرو- (۲)دَ غلام ضد- اصیل- دَ خپل واک خاوند- خُښے- ایله- (۳)خلاص- (۴)صفا- (۵)ارت- بې تکلفه- مؤنث ازاده-

ازادانه:(ا-زا-دا-نه)متعلق فعل- بې بندېزه- بې قېده- بې تکلفه-

ازادخیال:(اَ-زاد-خَیال)اسم صفت- (۱)دَ ارت زړهٔ خاوند- (۲)هغه څوک چې مذهبی او رسمی معاملو کښې تنګ نظر نهٔ وی- جمع ازادخیالی- مؤنث ازادخیاله- جمع/مؤنث ازادخیالې-

ازادخیالی (ا-زاد-خیا-لي)اسم- بې باکی-

ازادطبع:(اَ-زاد-طَ-بَع)اسم صفت- ازادخیال- لهٔ پابندیو آزاد-

ازادطبیعت:(اَ-زاد-طَ-بی-عَت)اسم صفت- خوش اروا- دَ ښې طبعې خاوند-

ازادګی :(ا-زا-د-ګي)اسم- آزادی- خلاصے- بې قېدی-

ازادې (ا-زا-دې)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ آزاد-

ازادول:(اَ-زا-دَ-وَل)مصدر/فعل متعدی- پرېښول- خلاصول- لهٔ قېده خُښے کول- رخصتول-

ازادون:(ا-زا-دَ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ ازادول-

ازادونکے:(اَ-زا-دَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ازادونکی- مؤنث ازادونکې- وګورئ ازادول-

ازادونګ:(اَ-زا-دَ-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ ازادول-

ازادونه:(اَ-زا-دَ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ازادول-

ازاده:(ا-زا-ده)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)دَ ازاد مؤنث- (۲)دَ خپل مخ- دَ خپلې خوښې- دَ خپلې رضا- (۳)پرېښودے شوې ښځه- طلاقه شوې ښځه- (۴)بداخلاقه ښځه- بې تکلفه ښځه-

ازادی:(اَ-زا-دی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خلاصے- (۲)رهائی- (۳)دَ قېدوبند، مرېتوب یا دَ بل دَ واک نه وتنه- (۴)بې تکلفی- (ش- فارسی)-

ازادېدل:(اَ-زا-دې-دَل)مصدر لازم- خلاصېدل- دَ بند نه وتل- بې غمه کېدل-

ازادېدن:(ا-زا-دې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ ازادېدل-

ازادېدنګ:(ا-زا-دې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ ازادېدل-

ازادېدنه:(ا-زا-دې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ازادېدل-

ازادېدونکے:(اَ-زا-دې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ازادېدونکی- مؤنث ازادېدونکې- وګورئ ازادېدل-

ازادېدهٔ:(ا-زا-دې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ ازادېدل-

ازار:(ا-زار)اسم- واحد- مذکر- (۱)رنځ- کړاو- ربړ- تکلیف- ضرر- (۲)مرورتوب- خفګان- (۳)وبال- بېره-

ازارسد:(ا-زار-سد)اسم- (۱) کړېدلے- (۲)پرتوعابن-

ازاردبه:(اَ-زار-دَ-به)اسم- وګورئ ازاروبه-

ازاروبه:(اَ-زار-وَ-به)اسم- دَ ماشومانو یوه بیماری- ازاردبه-

آزارغونډے:(اَ-زار-غون-ډے)اسم صفت- واحد- مذکر- چې خلق آزاروی- بدرواني- آزار کښلے-

ازارکښلے:(اَ-زار-کَ-ښَلے)اسم فاعل- واحد- مذکر- موذی- ضرر رسان- جمع ازارکښلی-

ازارول:(اَ-زا-ر-وَل)فعل متعدی- تکلیف ورکول- عذابول- کړول-

ازارون:(ا-زا-ر-وَن)حاصل مصدر- وګورئ ازارول-

ازارونکے:(اَ-زا-ر-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ازارونکی- مؤنث ازارونکې- وګورئ ازارول-

ازارونګ:(اَ-زا-ر-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ ازارول-

ازارونه:(ا-زا-ر-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ازارول-

ازاروهلے:(ا-زا-ر-وَ-هَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- پهٔ ښېرو ککړ- ښېرو وهلے- جمع ازاروهلی- مؤنث ازاروهلې-

ازاری:(ا-زا-ری)اسم صفت- پهٔ ښېرو ککړ- موذی- ناروغه- جمع ازاریان-

ازارېدل:(اَ-زا-رې-دَل)مصدر- دردېدل- کړېدل- عذابېدل- تکلیف رسېدل-

ازارېدلے:(اَ-زا-رې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ازارېدلی- مؤنث ازارېدلې- وګورئ ازارېدل-

ازارېدنه:(اَ-زا-رې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ازارېدل-

ازارېدونکے:(اَ-زا-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ازارېدل-

زبر"(خ-بڼ-ره)، "زورکے"(شل)، "پېش"(ثو-کا-ره)، "زېر"(کـ-تـاب)، "جزم"(شکون)، "ه"(زَ-ړه)، "هٔ"(پو-هې-دهٔ)

www.pukhto.net

ازاربدهٔ:(ا‌زا‌ري‌دهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ ازارېدل-

ازاله:(اَ-زَا-له)اسم- واحد- مؤنث- زائلونه- لرې کونه- ورانونه-

ازانکه:(ا-زانـک-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)انګې- انګازه- راتعبېدلے آواز- رونګ غنګ- (۲)بزېدنه- زېدنه- جمع ازانګې- دَ انګګه ضد-

ازباد:(ازـباد)اسم- آبادول- زبادېل- نوے کار کونه- کلے یا ښار ابادونه-

ازبادول:(اَزـبا-دَ-وَل)مصدر- ابادول- زبادول- نوے کار کول- کلے یا ښار ابادول-

ازبادېدن:(ازـبا-دي-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ اَزبادول-

ازبادېدنګ:(اَزـبا-دي-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ اَزبادول-

ازبادېدنه:(اَزـبا-دي-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ اَزبادول-

ازبادېدونکے:(اَزـبا-دي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ازبادېدونکي- مؤنث ازبادېدونکې- وګورئ اَزبادول-

ازبادېدهٔ:(ازـبا-دي-دهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ اَزبادول-

ازبر:(ازـبَر)حرف عطف- لهٔ پاره- لهٔ مخه- د پاره-

ازخ:(اَزخ)اسم- واحد- مذکر- زخه- ورې ورې دانې چې دَ کرمې دَ وجې نه پهٔ مخ راښکاره شي- خال- (م- فارسي)-

ازخورے:(ازـخو-رے)اسم- واحد- مذکر- (۱)یو قسم ازغے- (۲- صفت)موذي یا آزاري- جمع ازخوري-

ازدحام:(ازـدِ-حام)اسم- واحد- مذکر- ګڼه ګوره- هجوم- دَ خلقو راټولېدنه- ګڼه ګوڼه-

ازدواج:(ازـدِ-واج)اسم- وادهٔ کونه- جوړه کېدنه- (م- عربي)-

ازدواجي:(ازـدِ-وا-جي)اسم صفت- ازدواج سره متعلق-

ازرده:(اَ-زر-ده)اسم صفت- غمژن- ملول- غمګین- غمزده- دلګیر- رهیر- مرور- ناراض-

آزرم:(آ-زَ-رم)اسم- واحد- مؤنث- شرم- حیا- (۲)لوني- عزت- بزرګي- (۳)مینه- مهرباني- (۴)غم- اندوه- (۵)کرار- لحاظ- خاطر- (۶)قهر- غضب- غصه- (۷)ګناه- (۸)ساتنه- (م- فارسي)-

ازغکے:(اَزـغه-کے)اسم- واحد- مذکر- یو ازغن بوټے چې پېر تریخ وي او خټې داروګانو کښې پکارېږي- اغزکے- عربي کښې ورته شکاعی وائي- نباتاتي نوم اسپونیګس ګرېسیلس (ASPINGUS GRACILIS) -

ازغن:(اَز-غَن)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ازغي لرونکے- (۲)ازغن بوټے- مؤنث ازغنه-

ازغوټے:(از-غو-ټے)اسم تصغیر- واحد- مذکر- وړوکے ازغے- جمع ازغوټي-

ازغے:(اَزـغے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ بوټي یا ونې نه پهٔ تنه، پاڼه یا ګانګه راختلې دَ ستنې پهٔ شان تېرهٔ حصه- اغزے- (۲)دَ کب لښه- (۳)دَ خټې خناورو لکه لمی سره راوتلې ستن- (۴)دَ شګانهٔ ښې-

ازګي:(ازـګي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- هګۍ- هګۍ- هېزې- هېزي- فچی- (م- عربي- مجه)-

ازل:(اَ-زَل)اسم- واحد- مذکر- د اَبد ضد- دَ ماضي همېشګي چې ابتدائي حد ئ نهٔ وي-

ازلي:(اَ-زَ-لي)اسم صفت- (۱)دَ خدایٔ پاک یو صفتي نوم- قدیمي- (۲)ازل- (۲)دَ ازل سره متعلق-

ازمار:(اَزـمار)صفت- مذکر- چل ول- اني باني- مکر- حیله- فریب- دوکه بازي-

ازمایښ:(اَزـما-يښ)اسم- ازمېښت- تجربه- امتحان- (م- ازمائش فارسي)-

ازمایښت:(اَزـما-يښت)اسم- وګورئ ازمایښ-

ازمایښي:(اَزـما-يښي)اسم- دَ تجربې پهٔ ډول- دَ امتحان پهٔ طور- ازمائښ سره متعلق-

ازمايل:(اَزـما-يل)مصدر- ازمېل- ازموېل- تجربه کول-

ازمایلے:(اَزـما-يلے)صفت مفعول- تجربه شوے- معلوم شوے- جمع ازمایلي-

ازماین:(ازـما-ين)حاصلِ مصدر- وګورئ ازمايل-

ازماینګ:(ازـما-ينګ)حاصلِ مصدر- وګورئ ازمايل-

ازمایونکے:(اَزـما-يون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- ازمېښت کونکے- تجربه کونکے- جمع ازمایونکي-

ازمایونے:(اَزـما-يو-نے)اسم فاعل- وګورئ ازمایل-

ازماینه:(اَزـما-ينه)حاصلِ مصدر- ازمایښت- ازمایش- تجربه- وګورئ ازمایل-

ازموېل:(اَزـمو-يل)مصدر متعدي- دَ معنې دَ پاره وګورئ ازمايل-

ازموده:(اَزـمو-ده)اسم صفت- ازمایلے- تجربه کړے شوے-

ازموده کار:(اَزـمو-ده-کار)اسم صفت- تجربه کار- پوهه- بلد- خبر- پوه-

ازموېښت:(اَزـمو-يښت)حاصلِ مصدر- امتحان-

ازموېل:(اَزـمو-يل)مصدر- وګورئ ازمایل-

ازموېلے:(اَزـمو-يلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- (۱)ازمېښت شوے- کتلے شوے- (۲)کره کوټه معلوم شوے-

ازموېن:(اَزـمو-ين)حاصلِ مصدر- وګورئ ازموېل-

ازموېنګ:(اَزـمو-ينګ)حاصلِ مصدر- وګورئ ازموېل-

ازموېنه:(اَزـمو-ينه)اسم- (۱)آزماینه- آزمایش- تجربه- (۲)حاصلِ مصدر دَ ازموېل-

ازموېونکے:(اَزـمو-يون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- تجربه کونکے- جمع ازموېونکي- مؤنث ازموېونکې- وګورئ ازموېل-

ازمېښت:(از-مېښت)اسم- وګورئ ازمایښ-

ازمېښتي:(اَزـمېښ-تي)اسم مفعول/صفت- (۱)ازمایلے شوے- (۲)چالاک- چلباز- مکار- (۳)مجرب- (۴)مشروط-

ازمېل:(اَزـمي-يل)مصدر- ازموېل- تجربه کول-

ازمېيلے:(اَزـمي-يلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- تجربه شوے- جمع

ئ- (ئی-زل)، ي-(مې-رهـول)، ى-(ږيا-لي)، ے-(تن-ديږ) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www pukhto net

ارمسلی- مؤنث ازمېلې- وګوری ازمېيل-

اروغ:(ا-زوغ)اسم- د ژمی د پاره د خوراک سامان چې منجه شوے وی- د ازوغ يا ازوغے کوټه- ګودام- د خوراک د سامان کمره- (م- ازوقه- عربی)-

ازره بوټے:(أز-وه-بو-ټے)اسم- واحد- مذکر- غرنیز شین بوټے چې په يونانی دارو کښې ښکارولے شی- مصبّر- مسبّر- نباتاتی نوم د ايکوی ليرس يو قسم- (انګريزی ايلو-ايګل-وډ)- جمع ازره بوټی-

ازی مته:(أ-زی-م-ته)اسم صفت- واحد- مؤنث- شرمنده- نادم- وګوری زيمته- (م- عربی- هزيمت)-

ازيېل:(ا-زی-يل)مصدر- وګوری اېيېل-

ارېلے:(ا-ری-يه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ارېلی- مؤنث ارېلې- وګوری ارسل-

ارېن:(ا-ری-ين)حاصل مصدر- وګوری ارېن-

ارېنګ:(ا-ری-ينګ)حاصل مصدر- وګوری اېيل-

ارېنه:(ا-ری-يه-نه)حاصل مصدر- وګوری ارېن-

ارېونکے:(ا-ری-يون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ارېونکی- مؤنث ارېونکې- وګوری ازېيل-

اږدر:(أژ-در)اسم- واحد- مذکر- مار- اژدها- ښامار- (ث- فارسی)-

اژدره:(اژ-د-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مارنګه- (۲)ببله جل- د ديدن لانقه جينی- (۲)مسته- ښکلې- ببله-

اژدرها:(اژ-در-ها)اسم صفت- وګوری اژدها-

اژدها:(اژ-د-ها)اسم صفت- ښامار- لوئ مار- کتے مار- اژدر- اژدرها-

اژغنژن:(اژ-غن-ژن)اسم صفت- لۀ وری جوړ شوے- لۀ وژغونې جوړ- وژغن ژن-

اژغنور:(اژ-غ-ن-ور)اسم صفت- واحد- مذکر- مؤنث اژغنوره- جمع اژغنوری- وګوری اژغنژن-

اژمکی:(اژ-م-کي)اسم- واحد- مؤنث- سپوږمۍ- وږمکی- مباشت- وږه مکه- وګوری وږمکه-

اږبکه:(اږ-ب-که)اسم- واحد- مؤنث- تور وزرونه لرونکې يوه مرغی- شفقه- ماشی خورک- ماشخورک-

اږمے:(اږ-م-مے)اسم- واحد- مذکر- وګوری اږمے/ اږرقے-

اږغونک:(اږ-غو-نک)اسم- مذکر- يو بدبوداره بوټے چې سپين ګل کوی-

اږکی:(ر-م-کي)اسم تصغير- واحد- مؤنث- د اوړی اسم تصغير- وړه اږی-

اږل:(ا-ږل)اسم صفت- ښله مر- لېوال- مشتاق- تلوسه اړونکے-

اږيېل:(أږی-يل)مصدر- (۱)غبتل- تاوول- تاو ورکول- (۲)لمسول- ګومارول- (۲)جګول-

آس:(آس)اسم صفت- واحد- مذکر- لوئ خر-

اس:(اس)اسم- واحد- مذکر- (۱)کلک سومونه، ايال او وږده لکی لرونکے مشهور ځناور چې پخوانی زمانه کښې به د جنګ په کار راتللو- اوس د سورلی، ټانګو او ګاډيو د پاره استعماليږی- (۲)د شطرنج يو مهره- مؤنث اسپه- (ش- فارسی اسپ- پهلوی اسب- ژند اسپه- سنسکرت اشو)-

اسا:(أسا)اسم- (۱)غزروني- خميازه- (۲)شان- خېر- (وروستی معنٰی پښتو کښې مستعمله نۀ ده)- (فارسی)-

اساتذه:(ا-سا-ت-ذه)اسم- جمع- مذکر- سبق ښيونکی- واحد استاذ- تعليم ورکونکی- (م- عربی استاذ- فارسی استاد)-

اسارت:(ا-سا-رت)اسم- (۱)قيد و بند- (۲)مرئی توب- بندی توب- غلامی- (عربی)-

اساس:(اساس)اسم- واحد- مذکر- اړم- بنياد- ردم- بنسټ- جمع اساسونه-

اساس ګذار:(أساس-ګ-ذار)اسم فاعل- په بنيادی طور- رده کېښودونکے- بنياد کېښودونکے-

اساساً:(اساسن)متعلق فعل- د اساس سره متعلق-

اسامه:(أسا-سه)اسم صفت- لونی- شان و شوکت-

اساسی:(اساسي)صفت- بنيادی- بنيادی قانون- آئين- (افغانستان)-

اساطير:(أسا-طير)اسم- جمع- مذکر- قيصې- زړې افسانې- (م- عربی اساطير)-

اساليب:(أسا-ليب)اسم- جمع- مذکر- طريقې- طرزونه- طورطريقې- واحد اسلوب- (م- اسلوب عربی)-

اسامی:(اسا-می)(۱)د اسم جمع الجمع- نام- نومونه- (۲)حلق- (۲)دهقان- کاشتکار- (۴)سړے- (۵)اخستونکے- ګاک- خريدار- (۲)عهده- نوکری- (۷- صفت)مالدار- امير- وګوری سامی- (م- عربی)-

اسان:(ا-سان)اسم صفت- مذکر- د ګران ضد- د ګران، مشکل او سخت ضد- سوک-

اسانتوب:(ا-سان-توب)اسم- وګوری اسانتيا-

اسانتيا:(اسان-تيا)اسم- اسانی- اسانتوب- اسان والے- سهولت- وګوری اسانتيا-

اسانوالے:(اسان-وا-لے)اسم- وګوری اسانتيا-

اسانول:(أسا-ن-ول)مصدر متعدی- د ګرانول ضد- سوکه کول- اسانتيا پيدا کول- قيمت کمول- ارزانول- سوان کول- (ش- فارسی آسان)-

اسانون:(أسا-ن-ون)حاصل مصدر- وګوری اسانول-

اسانونکے:(أسا-ن-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اسانونکی- مؤنث اسانونکې- وګوری اسانول-

اسانونګ:(اسا-ن-ونګ)حاصل مصدر- وګوری اسانول-

اسانونه:(أسا-ن-و-نه)حاصل مصدر- وګوری اسانول-

اسانه:(أسا-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګوری اسان-

اسانه اسانی:(أسانه-أسانی)اسم- وګوری اسان- اسانتيا- ډېره اسانی-

اسانی:(أسا-نی)اسم- وګوری اسانتيا-

اسانېدل:(أسا-نې-دل)مصدر لازم- سوکه کېدل- اسان کېدل- (ش- فارسی)-

www.pukhto.net

اسانېدن:(اسا-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ اسانېدل-

اسانېدنګ:(اسا-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ اسانېدل-

اسانېدنه:(اسا-نې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ اسانېدل-

اسانېدونکے:(اسا-نې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اسانېدونکي- مؤنث اسانېدونکې- وګورئ اسانېدل-

اسانېده:(اسا-نې-ده)حاصل مصدر- وګورئ اسانېدل-

اسایش:(اسا-یش)اسم- واحد- مذکر- آرام- سکالی- جمع اسایشونه- (م- فارسي)-

اسباب:(أس-باب)اسم- جمع- مذکر- (۱)د سبب جمع- (۲)وجوهات- (۳)د ضرورت سامان- (۴)کالي- خاص طور سره د کټ بستري سره متعلق- (۵)عضو تناسل (عامیانه)-

اسباق:(أس-باق)اسم- جمع- مذکر- د سبق جمع- د کتاب هغه حصې چې هره ورځ يې لستونکے په لستلو واندې څي- (م- عربی سبق- مخکښې سلل)-

اسبانه:(أس-با-نه)اسم- جمع- مذکر- (۱)د اسونو ساتونکي- (۲)د اسپه مفېره حالت- واحد اسبون اسپه-

اسبند:(أس-بند)اسم- واحد- مذکر- د يو بوټي نوم- اسپند- سپند- سپېلنے- وګورئ توردانه سپېلنے- نباتاتي نوم پېګانم هرملا (PEGANUM HARMALA)-

اسبون:(أس-بون)اسم- واحد- مذکر- د اسونو ګرونکے- د اسونو پالونکے- د اسونو ګله بان- جمع اسبانه- مؤنث اسبنه- جمع مؤنث اسبنې-

اسبونول:(أس-بو-ن-ول)مصدر متعدي- د چانه د اسونو ګرونکے جوړول- ګوک د اسونو په ګرولو مقررول-

اسبونولے:(أس-بو-ن-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اسبونولي- مؤنث اسبونولې- وګورئ اسبونول-

اسبونون:(أس-بو-ن-ون)حاصل مصدر- وګورئ اسبونول-

اسبونونکے:(أس-بو-ن-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اسبونونکي- مؤنث اسبونونکې- وګورئ اسبونول-

اسبونونګ:(اس-بو-ن-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ اسبونول-

اسبونونه:(اس-بو-ن-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ اسبونول-

اسبونېدل:(أس-بو-نې-دل)مصدر لازم- د اسونو ګله بان کېدل-

اسبونېدلے:(اس-بو-نې-د-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اسبونېدلي- مؤنث اسبونېدلې- وګورئ اسبونېدل-

اسبونېدن:(أس-بو-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ اسبونېدل-

اسبونېدنګ:(اس-بو-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ اسبونېدل-

اسبونېدنه:(اس-بو-نې-ده-نه)حاصل مصدر- وګورئ اسبونېدل-

اسبونېدونکے:(أس-بو-نې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اسبونېدونکي- مؤنث اسبونېدونکې- وګورئ اسبونېدل-

اسبونېده:(اس-بو-نې-ده)حاصل مصدر- وګورئ اسبونېدل-

اسبه:(أس-به)اسم صفت- واحد- مذکر- د أس د ساتلو او خصماني نوکر- ساتيس- د اسونو ساتونکے- جمع اسبانه-

اسپاب:(أس-پاب)اسم- جمع- مذکر- وګورئ اسباب-

اسپتال:(أس-پتال)اسم- واحد- مذکر- هغه ځاې چې پکښې د رنځورانو علاج کېږي جمع اسپتالونه- (م- انګريزي هاسپي ټل)-

اسپرين:(اس-پرين)اسم صفت- (۱)لۀ أسپنې جوړ- (۲)کوړ- سخت- غټ ډېر- پکوس- سنګيني-

اسپغول:(اس-پغول)اسم- جمع- وګورئ سپغول-

اسپک:(اس-پک)اسم- واحد- مذکر- لړيه خيمه- تمبو-

اسپکه:(اس-پۀ-که)اسم- واحد- مؤنث- د خړ رنګ يو سپين ګل لرونکے بوټے چې حکيمان يې د مرضونو د پاره تجويز کوي- جمع اسپکې-

اسپکے:(اس-پ-کے)اسم- واحد- مذکر- اس کوچے- د اس اسم تصغير-

اسپل:(أس-پل)مصدر- جمع کول- جمع کول- ټنډورول- ذخيره کول- عدور-

اسپلاغ:(اس-پۀ-لاغ)اسم- د پانګ ساک-

اسپله:(اس-پۀ-له)اسم- واحد- مؤنث- د خړ رنګ لرونکے يو بوټے چې سپين ګل لري او دوايانو کښې پکارولے شي-

اسپنتورے:(أس-پن-تو-رے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)هغه ارزار چې أسپنه پرې تورولې شي- (۲)سوان-

اسپنخرے:(أس-پن-خۀ-رے)اسم- واحد- مذکر- د أسپنې بوره يا خيرے- سپنخرے- د أسپنې کشته- د اسپنې زنګ- اسپنخيرے- (م- د أسپنه او خرے مرکب)-

اسپنجور:(اس-پن-جور)اسم- واحد- مذکر- سوان- د لوارانو کالے چې ارزار پرې تېره کوي- (د أسپنې او جور مرکب)-

اسپنخيرے:(أس-پن-خي-رے)اسم- مذکر- زنګ- د اسپنې د پاسه چې سوربخن شان خيرے وخيژي- اسپخرے-

اسپند:(اس-پند)اسم- واحد جمع- مذکر- توره دانه- اسپند- سپند- سپېلنے- د يو بوټي دانې چې د نظر ماتولو د پاره په أور اچولے شي- نباتاتي نوم پېګانم هرملا (PEGANUM HARMALA)-

اسپنپوس:(أس-پن-پوس)اسم- واحد- مذکر- د پولو لوبه- (فارسي- چوګان)-

اسپندوکے:(أس-پن-دو-کے)اسم- واحد- مذکر- تنجوغه- کنجوغه- خورجي- خورجين- د أس د سوارۀ کڅوړه-

اسپن ذات:(اس-پن-ذات)اسم صفت- مضبوط- کلک- کوبلے- سخت-

اسپنکين:(أس-پن-کين)اسم- واحد- مذکر- امن رباب- يو قسم تور کانړے چې د خېل کښت نه نور ځيزونه ځان ته راکاږي (افغانستان)-

اسپنمزے:(أس-پن-مزے)اسم- واحد- مذکر- جمع أسپن مزي- لۀ أسپنې

www pukhto.net

جوړ شوی تار- (افغانستان)-

اسپنه:(أس-پهٔ-نه)اسم- واحد- مؤنث- پهٔ دماتونو کښي لهٔ تېولو زيات استعمالېدونکے سخت دمات چي کيمياني فارمولا يې ايف - ای (٤٤) او اېټمی شمېر يې ۲۲ دے-

اسپنيز:(أس-پهٔ-نيز)اسم صفت- دَ أسپني سره متعلق- دَ أسپني نه جوړ-

اسپوپلے:(اس-پو-پهٔ-لے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)بد عادتونو بدهٔ لباس کښتن- دروند خرو سړے- (۲)سپين رويے-

اسپه:(أس-په)اسم- واحد- مؤنث- (۱)يو مرض چي دَ پوزې نه پکښي وينه ځي- (۲)يو مرض چي دانه پکښي پهٔ بدن راخيژي- (۲)حيض- (ش- حصب عربي)-

اسپه:(اس-په)اسم- واحد- مؤنث- د کرمي هغه بيماری چي سوزے کوی-

اسپه:(اس-په)اسم- واحد- مؤنث- د أس مؤنث- وګوری: اس-

اسپيل:(أس-پي-يل)مصدر- وګوری: اسپل-

است:(أست)اسم- واحد- مذکر- کماټے- کنه- ارغی- (ش- انګريزی اس)-

است:(اسټ)اسم- واحد- مذکر- شته- هستي- وجود- خلق- (کول کېدل مصدرونه)- (م- فارسي هست)-

استاخګرنه:(أس-تاخ-ګرَ-نه)اسم- خبر ورنه را وړنه- پيغام رسانی-

استاخوالے:(أس-تاخ-وا-لے)اسم- وګوری: استاخګرنه-

استاخے:(أس-تا-خے)اسم صفت- واحد- مذکر- پيغام وړونکے را وړونکے- پيغام رسان- قاصد- نماينده- جمع استاخي-

استاد:(أس-تادْ)اسم صفت- واحد- مذکر- ښيونکے- هغه سړے چي بل چاته ځهٔ علم يا کسب ښئيی- ماهر- جمع استادان- مؤنث استاده- جمع مؤنث استاداني- (م- فارسي)-

استادانه:(أس-تا-دا-نه)متعلق فعل- د استاد سره متعلق- (م- فارسي استاد)-

استاده:(اس-تا-ده)اسم صفت- واحد- مؤنث- د استاد مؤنث- جمع مؤنث استاداني-

استادی:(أس-تا-دی)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: استاذ- دَ استاد پيشه-

استاذ:(أس-تاذ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)د سبق، کار کسب ښيونکے- (۲)چلاک- جمع استاذان-

استاذتوب:(أس-تاذ-توب)اسم- وګوری: أستاذ- استاذی- دَ استاد پيشه- استادی- استاذتيا- استاذوالے-

استاذتيا:(أس-تاذ-تيا)اسم- وګوری: أستاذتوب-

استاذوالے:(أس-تاذ-وا-لے)اسم- وګوری: أستاذتوب-

استاذه:(أس-تا-ذه)اسم صفت- واحد- مؤنث- سبق ښيونکي ښځه د استاذ مؤنث-

استاذی:(أس-تا-ذی)اسم- وګوری: أستاذتوب-

استان:(أس-تان)اسم- واحد- مذکر- (۱)کور- مکان- مرشل- دروازه- ستانه- جمع استانونه- (۲)خاندان-

استانه:(أس-تا-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ استان سره متعلق- دَ وسېدو ځای- (۲)کور- جونګړه- (۳)دَ پير دَ کښيناستو ځای- (۴)پير- فقير-

استانه دار:(أس-تا-نه-دار)اسم صفت- استانه لرونکے- دَ استاني خاوند- دَ مليانو، مياګانو، پيرانو دَ کورني غړے-

استاونه:(أس-تا-وَ-نه)حاصل مصدر- وسېدنه- پېره کېدنه- استوګنه کونه- ځهٔ ځيز لهٔ يو ځای نه بل ځای ته لېږنه-

استبداد:(اس-تب-دادْ)اسم- ظلم- جبر- غاصبانه عمل- مطلق العنانی- (م- عربي)-

استبدادی:(اس-تب-دا-دی)صفت- د استبداد سره متعلق-

استثمار:(اس-تث-مارْ)اسم- (۱)بړونه- ميوه بولونه- انتخاب- (۲)دَ بل لهٔ محنته فائده اخستنه- استعمار- (م- عربي)-

استثمارچی:(اس-تث-مارْ-چی)اسم فاعل/صفت- (۱)بړونکے- ميوه ټولونکے- انتخابونکے- (۲)استعماری- دَ بل لهٔ محنته فايده اغستونکے-

استثمارګر:(اس-تث-مار-ګر)اسم فاعل/صفت- وګوری: استثمارچی-

استثمارول:(اس-تث-ما-رَ-ول)مصدر متعدی- (۱)بړول- ميوه ټولول- انتخابول- (۲)دَ بل لهٔ محنته فائده اخستل-

استثماربدل:(اس-تث-ما-ري-دل)مصدر لازم- (۱)انتخابول- ابدل- (۲)دَ بل لهٔ محنته مائده اخستل کېدل-

استثنٰی:(اس-تث-نا)مصدر- دَ يو عامي قاعدې يا دَ قانون دَ نفاذ نه ځوک بری کول- بېلول/خارجول- (عربي)-

استحصال:(اس-تح-صالْ)اسم- طلب دَ حصول- اخستنه- حاصلونه- دَ اخستلو خواهش- پهٔ زور لخستنه- ترورنه- (م- عربي)-

استحضار:(اس-تح-ضار)اسم- حاضری غښتنه- بلنه-

استحقاق:(اس-تح-قاقْ)اسم- طلب دَ حق- حق غښتنه- (م- عربي)-

استحقاقی:(اس-تح-قا-قی)اسم صفت- دَ استحقاق سره متعلق-

استحکام:(اس-تح-کامْ)اسم- مضبوطيا- پوخ والے- ټينګار- جمع استحکامات- (م- عربي)-

استخاره:(اس-ت-خا-ره)اسم- (۱)طلب دَ خير کونه- (۲)فال اچونه- (۲)پهٔ شرعی اصطلاح کښي دَ يو کار دَ کېدو او نهٔ کېدو پهٔ باب کښي پهٔ يوه خاصه طريقه غيبی اشاره غښتنه- (م- عربي)-

استخراج:(اس-تخ-راجْ)اسم- (۱)راوتنه- (۲)را ايستنه- (۲)خارجونه-(۴) بيلېدنه- (۵)تفريق کونه- (م- عربي)-

استخلاص:(اس-تخ-لاصْ)اسم- (۱)دَ خلاصولو کوشش کونه- (۲)خلاصېدنه- (۲)نجات موندنه- (عربي)-

استخوان:(أس-تهٔ-خان)اسم- واحد- مذکر- هډوکے- هډ- (م- فارسي)-

استخوان فروشی:(أس-تهٔ-خان-فه-رو-شي)اسم- دَ مړ پلار، نيکهٔ پهٔ عزت برکت شهرت غښتنه- (فارسي)-

استدرال:(اس-تد-رالْ)اسم- موندنه- پوهېدنه- (م- عربي)-

زبر"(ج-بهٔ-ره)، زورکے"(شل)، پېښ"(نو-کا-ره)، زېر"(کـتاب)، جزم"(شکون)، "ه"(ز-ړه)، "ة"(پو-ښې-دهٔ)

www pukhto.net

استدعا (اس-تد-عا) اسم- غوښتنه کول- (م-عربي)-
استدلال:(اس-تد-لال)اسم- دليل- ثبوت- دليل راوړنه- دليل غوښتنه-
استر:(اس-تر)اسم- واحد- مذکر- (۱)د کپړې د مخ ضد- د غبرګې کپړې لاندې طرف- (۲)خرمن- خور- جمع استرونه-
استراحت:(اس-ت-را-حت)اسم- سکون- آرام- (م- عربي)-
اسټربل:(اس-ټر-بل)اسم- واحد- مذکر- دبر- شا- کُنه- سومبې- غزه-
استرى:(اس-ترى)اسم- واحد- مؤنث- د اسپنې يوه آله چې ګرمه کړې شي نو په جامو ئې ګرځوي او د کپړو ګونجې پرې اواروي- اتو- (م- هندي)-
استرے:(اس-ترے)اسم صفت- وروستے- آخرى- جمع استري- مؤنث استرې-
استسقاء:(اس-تس-قا)اسم- (۱)اوبه غوښتنه- (۲)باران غوښتنه- (۳)د يو مرض نوم چې د هغې مريض په اوبو څښلو نه مړېږي- (۴)تږسخوري- (۵)د باران د غوښتلو مونځ-
استصواب:(اس-تص-واب)اسم- راې پوښتنه- مشوره غوښتنه-
استطاعت:(اس-ت-طا-عت)اسم- (۱)وس- (۲)شته منې- پياوړتيا- دولت- حيثيت-
استعاره:(اس-ت-عا-ره)اسم- په پور غوښتنه- په سوال اخستنه- د لفظ خپل اصلي مفهوم په ځای د بل معنی کښې داسې استعمالېدل چې د اصلي او مرادي معنو تر مينځه د تشبيه وغېره تعلق وي-
استعانت:(اس-ت-عا-نت)اسم- مدد او کمک غوښتنه- مرسته غوښتنه-
استعجاب:(اس-تع-جاب)اسم- حېرانېدنه- (م- عربي)-
استعداد:(اس-تع-داد)اسم- (۱)قابليت- صلاحيت- (۲)قدرت- توان- وس- مالي توان (افغانستان)- (م- عربي)-
استعفٰی:(اس-تع-فا)اسم- طلب د معافي کونه- په يو منصب د کار نه کولو اراده ظاهرونه- (م- عربي)-
استعمار:(اس-تع-مار)اسم- (۱)ودانې غوښتنه- (۲)پردي ملک په خپل لاس کښې راوستنه- (۳)د بل ملک په وسائلو قبضه کونه- (م- عربي)-
استعمار پرست:(اس-تع-مار-پ-رست)اسم صفت- استعمار غوښتونکے- د استعمار شوقي- استعمارجو- استعماري- استعمارچي- استعمارګر-
استعمار جو:(اس-تع-مار-جو)اسم صفت- وګورئ استعمارپرست-
استعمار چي:(اس-تع-مار-چي)اسم صفت- وګورئ استعمارپرست-
استعمار ګر:(اس-تع-مار-ګر)اسم صفت- وګورئ استعمارپرست-
استعماري:(اس-تع-ما-ري)اسم صفت- وګورئ استعمارپرست-
استعمال:(اس-تع-مال)اسم- (۱)په کار راوستنه- چلونه- (۲)احتياط- پرهېز- (م- عربي)-
استعمالي:(اس-تع-ما-لي)اسم صفت- د استعمال وړ- ورپورې متعلق-
استعمالول:(اس-تع-ما-ل-ؤل)مصدر- په کار کښې راوستل- چلول-
استعمالون:(اس-تع-ما-ل-ون)حاصل مصدر- وګورئ استعمالول-
استعمالونکے:(اس-تع-ما-ل-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع استعمالونکي- مؤنث استعمالونکې- وګورئ استعمالول-
استعمالونګ:(اس-تع-ما-ل-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ استعمالول-
استعمالونه:(اس-تع-ما-ل-ؤ-نه)حاصل مصدر- وګورئ استعمالول-
استعمالېدل:(اس-تع-ما-لې-دل)مصدر لازم- چلېدل- په کار کښې راتلل-
استعمالېدن:(اس-تع-ما-لې-دن)حاصل مصدر- وګورئ استعمالېدل-
استعمالېدنګ:(اس-تع-ما-لې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ استعمالېدل-
استعمالېدونکے:(اس-تع-ما-لې-دون-کے) اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع استعمالېدونکي- مؤنث استعمالېدونکې- وګورئ استعمالېدل-
استعمالېدنه:(اس-تع-ما-لې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ استعمالېدل-
استعمالېده:(اس-تع-ما-لې-ده)حاصل مصدر- وګورئ استعمالېدل-
استغاثه:(اس-ت-غا-ثه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مدد غوښتنه- غاړ غاړ کونه- فرياد کونه- (۲)دعوی کونه- د چا برخلاف په فوجداري عدالت کښې دعوی کونه- (م- عربي)-
استغفار:(اس-تغ-فار)اسم- بخښنه غوښتنه- توبه کونه- (م- عربي)-
استغفرالله:(اس-تغ-فر-ل-لا)کلمه- (۱)زه د الله نه بخښنه غواړم- (۲)د توبې انکار او نفرت په موقع وئيلے شي- (م- عربي)-
استغراق:(اس-تغ-راق)اسم- په څه خيال کښې ډوبېدنه- توجه يو ځاے ته کونه- محويت-
استغنا:(اس-تغ-نا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)بې پرواني- بې نيازي- بې فکري- (۲)دولت منديَ-
استفاده:(اس-ت-فا-ده)اسم- (۱)فائده حاصلونه- ګټه غوښتنه- (۲)فائده- نفع- يو شے په خپل کار او فائده کښې راوستنه-
استفتا:(اس-تف-تا)اسم- فتوی غوښتنه- مسئله غوښتنه- (م- عربي)-
استفسار:(اس-تف-سار)اسم- پوښتنه- تپوس کونه- معلومونه-
استفهام:(اس-تف-هام)اسم- (۱)خان پوهونه- (۲)سوال پوښتنه- (۳)سواليه علامت-
استقامت:(اس-ت-قا-مت)اسم- (۱)ودرېدنه- ودرومه- (۲)ټينګوالے- (۳)قيام- پخه هوډ- طاقت-
استقبال:(اس-تق-بال)اسم- (۱)د چا مخې ته وتنه- (۲)راتلونکې زمانه- (۳)هر کلے- (م- عربي)-
استقرا:(اس-تق-را)اسم- څېړنه- لټون- تلاش-
استقرار:(اس-تق-رار)اسم- ټيکاؤ- ثبات- ودرېدنه-
استقراريه:(اس-تق-را-ري-يه)اسم- هغه دعوی چې عدالت ته پکښې د مدعا په حقله د فتوی درخواست شوے وي (قانون)-
استقلال:(اس-تق-لال)اسم- خپلواکي- د ملک د بل حکومت نه ازادېدنه-
استکار:(اس-ت-کار)اسم صفت- کاريګر- ماهر- دست کار- کسب ګر- جمع استکاران- مؤنث استکاره- جمع مؤنث استکارې-
استکاري:(اس-ت-کا-ري)اسم- مؤنث- کاريګري- مهارت-

www pukhto net

استل:(اس-تَل)مصدر فعل متعدی- ایستل- ویستل- وباسل-
استل:(اس-تَل)مصدر متعدی- یستل- خارجول-
استل:(اُس-تَل)مصدر- میشته کېدل- وسېدل-
استمداد:(اس-تم-داد)اسم- مدد غښتنه- کومک غښتنه- مرسته غښتنه-
استمرار:(اس-تم-رار)اسم- همېشه توب-
استناوه:(اَس-تَ-نا-وه)اسم- واحد- مؤنث- دَ مشرى یا بزرگۍ مالي حق-
استنباط:(اس-تم-باط)اسم- اخذ کونه- را ایستل- حاصلونه- خوښونه- (م- عربی)-
استنجا:(اس-تن-جا)اسم- دَ ضروري حاجاتو نه پس اودس کونه- دَ نمانځهٔ دَ پاره پهٔ شرعي طریقه تیارے-
استوا:(اس-ت-وا)اسم- برابرونه- سموالے- سمون- (م- عربی)-
استوار:(اس-ت-وار)اسم صفت- (۱)ټینګ- (۲)کلک- (۳)مضبوط- (۴)محکم- (م- فارسی)-
استواری:(اُس-ت-وا-ری)صفت- استوار سره متعلق-
استوازے:(اس-تَ-وا-زے)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ: آستانے- (عامیانه)-
استوغان:(اس-تو-غان)اسم- (۱)صبر- طاقت- (۲)مرئ- حلق-
استوکن:(اُس-تو-کَن)اسم- واحد- مذکر- بولسمي صدی کښې پهٔ روزمره کل استعمال شوے توری- وګورئ: استوکے-
استوکنه:(اُس-توک-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: استوکن او استوکے- دَ استوکې غلط قرات-
استوګه:(اُس-تو-ګه)اسم- دېره نیونه وسېدنه- بودوباش اختیارونه- دېره کېدنه-
استوکے:(اُس-تو-کے)اسم فاعل- استوګه کونکے- وسېدونکے- جمع استوکي-
استول:(اُس-تَ-ول)مصدر متعدی- (۱)مستول- اباول- میشته کول- زرغونول- (۲)مرسته او پشت پنامی کول- اباول-
استولے:(اُس-تَ-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع استولي- مؤنث استولې- وګورئ: استول-
استون:(اُس-تَ-ون)حاصل مصدر- وګورئ: استول-
استونکے:(اُس-تَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع استونکي- مؤنث استونکې- وګورئ: استول-
استونه:(اُس-تَ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ: استول-
استونے:(اُس-تَ-و-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع استوني- مؤنث استونې- وګورئ: استول-
استوے:(اس-تَ-وے)صفت- (۱)یو ستوے- چې غبرګ نهٔ وی- (۲)یواځې- بې خوګه- چې وروړ عزیز نهٔ لری- خان له- (۳)یو- چې پهٔ شان یې بل نهٔ وی- (۴)دَ یوهٔ تاز-
استهزا:(اس-تہ-زا)اسم- پېشاړې- ټوکې- ملنډې- (کول/کېدل مصدرونه)-

(م- عربی)-
استین:(آس-تین)اسم- واحد- مذکر- لستونے- نستونے- جمع آستینونه-
استینه:(اَس-تی-نه)اسم- واحد- مؤنث- اګی- مکی- ها- جمع آستینې- (م- فارسی)-
استېدل:(اس-تې-دل)مصدر- میشته کېدل- آبادېدل- ودرېدل- زرغونېدل- وسېدل-
استېدلے:(اُس-تې-دَ-لے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع استېدلي- مؤنث استېدلې- وګورئ: استېدل-
استېدن:(اُس-تې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ: استېدل-
استېدنګ:(اُس-تې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ: استېدل-
استېدنه:(اُس-تې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ: استېدل-
استېدونکے:(اُس-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع استېدونکي- مؤنث استېدونکې- وګورئ: استېدل-
استېدهٔ:(اس-تې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ: استېدل-
استېزه:(اَس-تې-زه)اسم- دَ جنګېدونکو فریقو تر مېنځه دَ صلحې خبرې-
اسد:(اَسَد)اسم- واحد- مذکر- (۱)مزرے- زمرے- (۲)دَ آسمان پهٔ دولسو برجونو کښې یو برج چې شکل یې دَ مزری پهٔ شان وی- (۳)دَ شمسي کال میاشت چې دَ عیسوی کال دَ ۲۴ جولائی نه ۲۲ اګست سره مطابقت خوری- (م- عربی)-
اسرار:(اس-رار)اسم- واحد/جمع- مذکر- (۱)راز ساتنه- (۲)راز پټونه- (۳)(دَ روزمره الف پهٔ فتح) رازونه-
اس راس:(اَس-راس)اسم صفت- لربر- اخوا دېخوا- هلته دلته- دلته- اورته- الے دورے- دولے دولے- دلے دورے-
اسراف:(اس-راف)اسم- بدخرڅی- عبث لګښت- زیاتے- (م- عربی)-
اسرافیل:(اِس-را-فیل)اسم- هغه فرښته چې دَ قیامت پهٔ ورځ به شپېلۍ غږوی-
اسرائیل:(اِس-را-ایل)اسم- دَ حضرت یعقوب علیه السلام لقب- (م- عبرانی- اسر- پهلوان/بنده او ایل- خدای)-
اسره:(اس-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)طمع- توقع- (۲)بر- (۳)صرفه- دریغ- جمع اسرې- (م- هندی آسرا)-
اسره باز:(اُس-ره-باز)اسم صفت- مذکر- اسره من- (۱)توقع کونکے- اسره کونکے- طمع کونکے- (۲)برلرونکے- (۳)صرفه کونکے-
اسره من:(اُس-ره-من)اسم صفت- مذکر- وګورئ: اسره باز-
اسرو:(آسرو)اسم- واحد- مذکر- کړاؤ- تکلیف-
اسفنج:(اَس-فنج)اسم- واحد- مذکر- اسپنج- یو سمندری مخلوق- (م- انګریزی- سپنج)
اسقاط:(اَس-قاط)اسم- واحد- مذکر- (۱)سخات- هغه صدقه چې دَ مړی دَ جنازې نه پس ورکېدے شی- (۲)اچونه- دَ حمل زیان- (م- عربی)-
اسک:(اسک)اسم- واحد- مذکر- بچه- قرعه- یسک- خسنې- ایسک- خسک-

(اچول مصدر)-

اسک:(أسکْ)اسم صفت- مسک- وَچت- پورته-

اسکېرل:(أس-کې-رل)مصدر- په شکارهٔ کښې غله دَ پوه نه را پرېستل او صفا کول- ځپ وهل-

اسکېرل:(أس-کې-رل)مصدر مُتعدی- ژېل- بې دمه کول- کمزورے کول- خپل- خوارول-

اسکېرلے:(أس-کې-رهٔلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اسکېرلی- مؤنث اسکېرلې- وګورئ اسکېرلے-

اسکېرن:(أس-کې-رن)حاصل مصدر- وګورئ اسکېرل-

اسکېرنګ:(أس-کې-رنګ)حاصل مصدر- وګورئ اسکېرل-

اسکېرنه:(أس-کې-رهٔنه)حاصل مصدر- وګورئ اسکېرل-

اسکېرونکے:(أس-کې-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اسکېرونکی- مؤنث اسکېرونکې- وګورئ اسکېرل-

اسکېزنه:(أس-کې-زهٔنه)اسم- واحد- مؤنث- دَ دروازې دَ اړم وړُوړ لرګے-

اسکېلوے:(اس-کېل-وے)اسم- واحد- مذکر- اسوېلے-

اسکند:(أس-ګندْ)اسم- واحد- مذکر- یوه جړړه چې لوه ترخه او یوه کته اوږده نری او سپین بخته وی او په دارُو کښې پکارولے شی- نباتاتی نوم نے سیلس فلیکسوزا-

اسکورے:(أس-ګو-ړے)اسم تصغیر- واحد- مذکر- (۱)دَ أس ووکے بچے- بیانې- (۲)دَ ماشومانو دَ لوبو لهٔ لرګي یا بل کوم څیز جوړ شوے ووکے أس- اسکورے-

اسکېرل:(أس-کې-رل)مصدر متعدی- غوږ نیوے کول- غوږ څارنې کول- دَ چا خبرو ته پټ غوږ نیول-

اسکېرلے:(أس-کې-رهٔلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اسکېرلی- مؤنث اسکېرلې- وګورئ اسکېرل-

اسکېرن:(أس-کې-رن)حاصل مصدر- وګورئ اسکېرل-

اسکېرنګ:(أس-کې-رنګ)حاصل مصدر- وګورئ اسکېرل-

اسکېرنه:(أس-کې-رهٔنه)حاصل مصدر- وګورئ اسکېرل-

اسکېرونکے:(أس-کې-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اسکېرونکی- مؤنث اسکېرونکې- وګورئ اسکېرل-

اسل:(أسل)اسم صفت- (۱)برابر- سم- (۲)د بدل ضد-

اسلاف:(أس-لاف)صفت- لرغونی- پخوانی- ورومبنی- دَ پېړی مشران-

اسلام:(اس-لاَم)اسم- مذکر- (۱)هغه دین چې رسول الله صلی الله علیه و سلم او نورو نبیانو دَ خدایٔ لهٔ طرفه راوړے دے- دَ خدایٔ پاک غوره کړے دین- محمّدی دین- (۲)غاړه اسونه- (م- عربی)-

اسلامی:(اس-لا-مي)اسم صفت- دَ دین اسلام سره متعلق-

اسلحه:(أس-ل-حه)اسم- واحد- مؤنث- وسله- د جنګ سامان- ټوپک- تماچه وغېره-

اسلحه بند:(أس-لَ-حه-بند)اسم صفت- مسلح- پهٔ وسله پور-

اسلوب:(أس-لوبْ)اسم- جمع- مذکر- انځور- طرز- طریقه- جمع اسالیب- (م- عربی)-

اسلول:(أس-لَ-ول)مصدر متعدی- برابرول- جزا ورکول- سمول-

اسلولے:(أس-لَ-وهٔلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اسلولی- مؤنث اسلولې- وګورئ اسلول-

اسلون:(أس-لَ-ون)حاصل مصدر- وګورئ اسلول-

اسلونګ:(أس-لَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ اسلول-

اسلونه:(اس-لَ-وهٔنه)حاصل مصدر- وګورئ اسلول-

اسلونکے:(أس-لَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اسلونکی- مؤنث اسلونکې- وګورئ اسلول-

اسلی:(أس-لي)اسم- واحد- مذکر- د یو دارُو نوم-

اسلېت:(اس-لېټ)اسم- صد-

اسلېدل:(أس-لې-دل)مصدر لازم- سمېدل- برابرېدل- صحیح لارې ته سمېدل-

اسلېدلے:(اس-لې-دهٔلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اسلېدلی- مؤنث اسلېدلې- وګورئ اسلېدل-

اسلېدن:(أس-لې-دن)حاصل مصدر- وګورئ اسلېدل-

اسلېدنګ:(أس-لې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ اسلېدل-

اسلېدنه:(اس-لې-دهٔنه)حاصل مصدر- وګورئ اسلېدل-

اسلېدونکے:(أس-لې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اسلېدونکی- مؤنث اسلېدونکې- وګورئ اسلېدل-

اسم:(اِسْم/اِسْم)اسم- واحد- مذکر- (۱)نوم- (۲)دَ کس- ځایٔ یا څیز نوم (ګرامر)- (۲)سحر- جادو- جمع اسمُونه/اسماء- (م- عربی)-

اسم اعظم:(اِس-مې-أع-ظَم)اسم- دَ الله تعالی پهٔ نومونو کښې دَ ټولو نه لویٔ نوم-

اسمٰعیل:(اس-ما-عیل)اسم- (اصل معنی خدایٔ پاک واورېدهٔ)- دَ حضرت ابراهیم علیه السلام مشر ځویٔ چې دَ خدایٔ پاک پهٔ حکم قربانی دَ پاره پېش کړے وه- دَ رسول کریم صلی الله علیه وسلم جدِ امجد- (م- عبرانی)-

اسمان:(آس-مانْ)اسم- واحد- مذکر- دَ زمکې دَ پاسه ښکارېدونکې دَ شین رنګ چتری- (۲)بخت- شاعرانه اصطلاح- جمع آسمانونه-

اسمان ایوا:(آس-مانَ-ای-وا)اسم- وګورئ اسمان کټ-

اسمان چوړ:(أس-مانَ-چوړ)اسم- آسمان ته نېغ تللے- عمودی-

اسمان ځاڅکے:(أس-مانَ-ځاڅ-کے)اسم- ګوجے- ګوجه- اسمان کرېنګن- لعاب دار چینجے- مارغنې- اسمان ځار-

اسمان ځار:(أس-مانَ-ځار)اسم- مذکر- وګورئ اسمان ځاڅکے-

اسمان ځک:(أس-مان-ځک)اسم- وُچت- وچته تلا-

اسمان ځکاکے:(أس-مان-ځ-کا-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ آسمان ځکالے-

ئ: (ځی-رل)، ي:(مې-رهٔ-ول)، ی:(پیا-لې)، ے:(تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

اسمان ځکالکے:(اَس-مانْ-ځ-کالْ-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ آسمان ځکالے-

اسمان ځکالے:(اَس-مانْ-ځ-کالے)اسم- واحد- مذکر- بناپېرک- اسمان کوچے- ځکاکے- آسمان ځلکے- آسمان ځکالکے- نمابنام ځکالکے- خوچی-

اسمان دره:(اَس-مانْ-دَ-ره)اسم- واحد- مؤنث- سپینه لار- اسمان لاره-

اسمان کټ:(اس-مانْ-کټ)اسم- مذکر- دْ اوو ستوریو جومبه- وګورئ کټ-

اسمان کوچے:(اَس-مان-کوچے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ اسمان ځکالے-

اسمان ګرېنګن:(اَس-مانْ-ګرېنګ-ګن)اسم- وګورئ اسمان ځاځکے-

اسمان لار:(اَس-مانْ-لارْ)اسم- واحد- مؤنث- سپینه لار- د ستورو لار-

اسما:(اس-ما)اسم- جمع- مذکر- دْ اسم جمع- وګورئ اسم-

اسمانی:(اس-ما-ني)اسم صفت- دْ آسمان سره متعلق-

اسمانی رنګ:(اَس-ما-نی-رنګ)اسم صفت- دْ آسمان پهْ شان رنګ- شین رنګ- پیکه شان شین رنګ-

اسمانی کتاب:(اَس-ما-ني-کِ-تاب)اسم- مذکر- هغه کتابونه چي دْ خدايْ لهْ طرفه پهْ پېغمبرانو نازل شوی وو-

اسنا:(اَس-نا)اسم- واحد- مؤنث- فائده- ښېګړه- نفع- بهتري-

اسناد:(اَس-نادْ)اسم- جمع- مذکر- تصدیقونه- دلیلونه- دْ سند جمع- وګورئ سند-

اسنل:(اَس-نل)اسم- اغېړ- بد هضمي-

اسنے:(اَس-نے)اسم صفت- مذکر- دْدي وخت- دْدي دوران- مروّج- اوسنے-

اسنل:(اَس-نل)مصدر متعدی- دْ برستنو، تولایانو کښل،ټېرل-

اسو:(اَسو)اسم- واحد- مذکر- بکرمي کال شپږمه میاشت- اسوج- ستمبر/اکتوبر-

اسود:(اس-وَد)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)پهْ رنګ تور- توررنګے- (۲)حبشي- رنګی- (م- عربي)-

اسودګی (اَسو-دَ-ګي)اسم- واحد- مؤنث- خوشحالي- بې فکري- بې غمي- (فارسي)-

اسوده:(آسو-ده)اسم صفت- واحد/جمع- مذکر/مؤنث- (۱)خوړنده- موړېټ- موسا- (۲)ارام- بې غمه-

اسوده حال:(آسو-ده-حالْ)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ اَسوده-

اَسون:(اَسونْ)اسم- جمع- مذکر- حمیا- چمامه- جنواوه- تاراموا- ترخهْ شرشم(وزیر)- نباتاتی نوم لے پېدېم سېتی وم-

اسوره:(اسو-ره)اسم- واحد- مذکر/مؤنث- بې خویه- ناسوره-

اسونی:(اسو-ني)اسم- مؤنث- (۱)تسلي- اطمینان- (۲)کرېزانے- اروېے-

اسونے:(اسو-نے)اسم- واحد- مذکر- دْ اَسونې ګټکے- مېخکوب-

اسوېلانه:(اَس-وي-لانهْ)اسم صفت- واحد- مذکر- سولند- سولاند- ارواوړے- اری وژے- وږ سترګے- جمع اسوېلاندی-

اسوېلانه توب:(اس-وي-لانه-توب)اسم- حرص- لالچ- ارواورتوب- وسترګوالے- لوږ توب-

اسوېلژن:(اَس-وېل-ژَنْ)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه سړے چي دْ بل ښهْ حالت تهْ يْ کینه رانځي او ساړهْ ساړهْ اسوېلي کوي- وږے سترګے- اروا خوارے- بد نیته- مؤنث اسوېلژنه- جمع مؤنث اسوېلژني-

اسوېلکے:(اَس-وېل-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ اسوېلے- جمع اسوېلکي-

اسوېلل:(اَس-وي-لل)مصدر متعدی- فریاد کول- آه و افسوس کول- اوسېلل-

اسوېلے:(اَس-وي-لے)اسم- واحد- مذکر- آه- دْ زړهْ دْ رنځ و حسرت دْ اظهار آواز- پورتې ژامنه پره او لاندنۍ ژامنه ښکته کونه او داسې خلهْ پرانستته او تری هوا را ایستته-

اسهال:(اَس-هالْ)اسم- جمع- نس ناسته- نس نهی- دستونه- دستونه لګېدنه- (م- عربي)-

اسی:(اَسی)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)سپېره- بد برخے- منحوس- بد نصیب- (۲)بخیل- کنجوس-

اسی:(اسي)اسم صفت- واحد- مذکر- خصي-

اسیا:(اَس-یا)اسم- واحد- مؤنث- ژرنده- جمع اسیاوې/اسیاګانې- (م- فارسی)-

اسی توب:(اَسی-توبْ)اسم- (۱)سپېرهْ توب- بدبرخي- بدنصیبي- (۲)خصي توب-

اسیر:(اسیر)اسم صفت- واحد- مذکر- قېدي- بندي- پابند- (م- عربي)-

اسیری:(اَسی-ری)اسم- مؤنث- ګرفتاری- قېد و بند-

اسیب:(اَسیبْ)اسم- واحد- مذکر- دْ وریتولو دْ پاره لهْ سري، اینې او وازدې نه پکه کولمه-

آسیب:(اَسیبْ)اسم- واحد- مذکر- دْ پېریانو دېوانو اثر- دْ بدو روحونو اثر- پاسُورے-

اسیت:(اَسیتْ)اسم- واحد- مذکر- شامت- نحوست- سپېرهْ توب-

اسي داسې:(اَسي-داسې)صفت- (۱)مفسي دغسې- (۲)مبنغ بې هیڅه- بېکاره- بې مطلبه-

اسیمه:(اَسي-مه)اسم- واحد- مؤنث- هغه اسپه چي وارې راورے وی- جمع اسیمې-

اسی:(اَسی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دوند- (۲)یخ بسته- پرخه-

اسے:(اَسے)اسم- واحد- مذکر- څڅ شوے- کرنګ شوي پرخه- برنجکه- چنی- سپینه پرخه- ځله-

اش:(آش)اسم- واحد- مذکر- ښوروا- یخني- کیر- لېټی- دْ وریښو یا دالو ابهْ- نکولے-

اش:(اش)حرف- (۱)دْ تعجب او تحسین کلمه- (۲- اسم)- طمع- آرزو- ګومان- (م- دوېمه معنی کښي دْ هندی آشا- اُمید)-

اش:(اش)اسم صوت- دْ خرهْ دْ ودرولو مخصوص اواز-

اش:(اَش)کلمه- دْ انکار کلمه- یېخی داسې نهْ ده-

زبر "(خ-بهْ-ره)، "زورکے"(شل)، "پېښ"(نو-کا-ره)، "زېر"(کِ-تاب)، "جزم"(شکون)، "ۀ"(ز-ړه)، "ۀ"(پو-سبې-دهْ)

www pukhto net

اش اش:(اَش-اَش)کلمه- دَ خرهٔ ردرونه-

اشا:(اَ-شا)اسم- واحد- مؤنث- د ویری یو فرضی څیز- اسپېب- جمع اشاګانې- (م- عربی- اشیاء دَ شی جمع)-

اشا:(اَشا)اسم صوت- د خرهٔ د شرلو اواز-

اشار:(اَشار)اسم صفت- واحد- مذکر- تریخ- اشاړ-

اشارت (اَ-شا-رَت)اسم- واحد- مذکر- (۱)زونګه- ښاړه- (۲)دَ سر، سترګو، لاس یا ګُتې یا دَ بل کوم اندام په ذریعه دَ خپل مقصد ښرګندونه- (۳)کنایه- (۴)دَ ایش تپا (میرکاڼی) د لوبې یوه مرحله- جمع اشارتونه-

اشارتوب:(اَشار-توب)اسم- تریخوالے- شاړتوب- شاړوالے-

اشاړوالے:(اَشاړ-والے)اسم- وګورئ اشاړتوب-

اشاره:(اِ-شا-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وګورئ اشارت وروميې، دويمه او دريمه معنٰی- (۲)الصون- (۳)په نمانځهٔ کښې دَ تشهد وئيلو په وخت ګته وچتونه-

اشاريت:(اِ-شا-ري-يت)اصطلاح- د فن او ادب يوه اصطلاح- ايما- رمز- سمبلزم-

اشاريه:(اِ-شا-ري-يه)اسم- واحد- مؤنث- انډکس- دَ کتابونو هغه ضميمه چې پکښې دَ کتابونو ليکونکيو، ځايونو وغيره فهرست ور کړے شوے وي- جمع اشاريې- (م- عربی)-

اشاړ:(اَشاړ)اسم صفت- وګورئ اشار-

اشاړی:(اَ-شا-ړی)اسم- واحد- مؤنث- جمع هم استعماليږي- (۱)زردالو- (۲)وچه خرماڼی- دَ پرونس وومیسټیکا یو قسم- څنې ځايونو کښې بادام هم- اشاړی بلی-

اشاعت:(اِشا-عَت)اسم- (۱)شائع کونه- (۲)اولس کښې څهٔ خبره خورونه- (۳)کتاب يا رساله چاپ کونه- (۴)ايډيشن- جمع اشاعتونه- (م- عربی)-

اشاکله توبه:(اَشا-کَله-تو-به)اسم- (۱)دَ حاشا و کلا- توبه مُخفّف او منقّن- خدایٔ دې نهٔ کوی- بانده- توبه-

اشباه:(اش-باه)اسم- جمع- مذکر- شبه- شک- (م- عربی)-

اشپز:(اَش-پَز)اسم- واحد- مذکر- اش پخونکے- باورچی- بټیارے- (م- فارسی)-

اشپزخانه:(اَش-پز-خانه)اسم- مؤنث- باورچی خانه- هغه ځایٔ چې پکښې اخلے پخلے کيږی- چارکے- (م- فارسی)-

اشپزی:(اَش-پَ-زی)اسم- دَ اشپز پېشه- خواړهٔ پخونه- نکولے پخونه-

اشپير:(اَش-پير)اسم- واحد- مذکر- شور- زوږ- (۲)غوبمنډ- (۳)په غير مهذب طريقې سره را جمع کېدنه- (۴)انبوخر- جمع اشپيران- اشپيرونه-

اشتباه:(اِش-تِ-باه)اسم- واحد- مذکر- اړنګ- وټ- ګومان- شک شبه- (م- عربی)-

اشتباهی:(اِش-تِ-با-هی)اسم صفت- شکی- غير يقينی- (م- عربی)-

اشتر:(اُش-تُر)اسم- واحد- مذکر- دَ اس دَ ټانګ نمسه- جمع اشترونه- (م- فارسی)-

اشتراک:(اِش-تِ-راک)اسم- (۱)ګډون کونه- شرکت کونه- (۲)ګډون- شرکت- (۳)دَ اخبار يا مجلې خريدار کېدنه- (افغانستان)-

اشتراکی:(اِش-تِ-را-کی)اسم- دَ اشتراکيت سره منسوب-

اشتراکيت:(اِش-تِ-را-کی-يت)اسم- هغه سياسی او معاشی نظام چې مقصد ئې دَ کارل مارکس اينګلز او لينن دَ فلسفو دَ لاندې يوه غير طبقاتی معاشره او دَ کميونسټ پارټۍ اقتدار راوستل دی-

اشتعال:(اِش-تِ-عال)اسم- واحد- مذکر- (۱)بلونه- دَ اور لمبه زياتونه- (۲)په جوش او غصه کښې راوستنه- اودهٔ جذبات را پارونه- (م- عربی)-

اشتغ:(اَش-تَغ)اسم- واحد- مذکر- اشتک- دَ يوې ميوې نوم- خرماڼی- شلېکے-

اشتغال:(اِش-تِ-غال)اسم- بوختېدنه- لګياکېدنه- مشغولېدنه- (م- عربی)-

اشتقاق:(اِش-تِ-قاق)اسم- دَ يوې کلمې نه بله راوکښنه- (م- عربی)-

اشتک:(اَش-تَک)اسم- واحد- مذکر- وچ زرد الو- شليکے- کښته- وګورئ اشتغ-

اشتمال:(اِش-تِ-مال)اسم- (۱)شاملونه- ګډونه- (۲)دَ زمکو دَ وړو وړو ټوټو يو ځائې کونه- دَ محکمه مال اصطلاح-

اشتمالی:(اِش-تِ-ما-لی)اسم صفت- اشتمال سره منسوب- کميونسټ-

اشتماليت:(اِش-تِ-ما-لی-يت)اسم- اشتراکيت- کميونزم- (م- عربی)-

اشتوکه:(اَش-تو-که)اسم- واحد- مؤنث- روغه جوړه- صُلح- اشتی- (۲)دوستی(ش- فارسی- اشتی)-

اشتها:(اِش-تِ-ها)اسم- واحد- مؤنث- خواهش- رغبت- لوږه- (م- عربی)-

اشتهار:(اِش-تِ-هار)اسم- واحد- مذکر- (۱)ښرګندونه- اوڅارونه- شهرت- (۲)ښرګندېدنه- (۳)ښرګندونه- اعلان- هغه ليکلے يا چاپ شوے کاغذ چې د هغې په ذريعه د څهٔ څيز مشهورتيا وکړے شي- جمع اشتهارونه- (م- عربی)-

اشتهاری:(اِش-تِ-ها-ری)اسم صفت- اشتهار سره منسوب-

اشتی:(اَش-تی)اسم- واحد- مؤنث- صلح- دوستی- صلح جوړی- (م- فارسی)-

اشتياق:(اِش-تِ-ياق)اسم- (۱)شوق- خله- غبښته- آرزو- خواهش- طلب- (۲)شوق- (م- عربی)-

اشخار:(اَش-خار)اسم- جمع- مذکر- شخار- توورکاړ- هغه څيز چې دَ زومې نومې بوټې نه حاصليږی او دَ جامو په وينځلو کښې پکارولے شي- سجی- اشقار- شقار- وګورئ شخار-

اشخاص:(اَش-خاص)اسم- جمع- مذکر- دَ شخص جمع- شخص دَ تن، فرد، کس (دَ مذکر او مؤنث دواړو دَ پاره پکاريږی)- واحد شخص-

اشخورکه:(اَش-خو-رَ-که)اسم- واحد- مؤنث- دَ ماشومانو يو خاص قسم واسکټ- جمع اشخورکې-

اشر:(اَشَر)اسم- واحد- مذکر- (۱)بلندره- بګړه- بسکره- ټينګه- پکاړه-

جمع اَشرونه- (۲)دَ یو کار دَ پاره جمع کېدنه- (۳)پهٔ شریکه کار کونه- (۴)پهٔ جمع دَ امداد پهٔ پوړ مُفت یو کار کونه-

اشرار:(اَش-رار)اسم- جمع- مذکر- د شریر جمع- شرارتیان-

اشراف:(اَش-رَاف)اسم- جمع- مذکر- نېکان- واحد اشرف- (جمع اشرافان)-

اشرافیت:(اَش-را-فِي-يت)اسم صفت- د اشراف کېدو حالت-

اشرافیه:(اَش-را-فی-يه)اسم- اشراف نامه- د شریفانو طبقه-

اشرماندے:(اَ-شر-مان-دے)اسم صفت- مذکر- په اشر کښې شریک مړد-

اشرمانړے:(اَ-شر-مان-ړے)اسم صفت- مذکر- وګوری: اشرماندے-

اشرمانے:(اَ-شر-ما-نے)اسم صفت- وګوری: اشرګر-

اشرپۍ:(اَش-ره-پۍ)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګوری: اشرفی-

اشرف:(اَش-رف)اسم صفت- واحد- مذکر- ډېر شریف-

اشرفی:(اَش-رَ-فی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- اشرپۍ- دَ سرو زرو یوه سکه چې تقریباً شپږ ماشې به وه- (م- عربی)-

اشرګر:(اَ-شر-ګر)اسم صفت- واحد- مذکر- دَ اشر ملګرے- اشرمانے- اشرګرندے- اشرګندے- جمع اشرګری-

اشرګرندے:(اَ-شر-ګرَن-دے)اسم صفت- وګوری: اشرګر- جمع اشرګرندی-

اشرګندے:(اَ-شر-ګَن-دے)اسم صفت- وګوری: اشرګر- جمع اشرګندی-

اشرنشر:(اَ-شر-نَ-شر)اسم- واحد- مذکر- (۱)قیامت- دَ محشر ورځ- حشرنشر- (۲)غوبَل‌منډه- شور و غوغا- زوږ- الغاږ تلغاږ-

اشری:(اَ-ش-ری)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)کورنے مست او شهوتی خناور- سانډه- (۲)بد عمله- کنجر- شهوتی- (۳)وګوری: اشرګر- (۴)بد اخلاق-

اشعار:(اَش-عار)اسم- جمع- مذکر- دَ شعر جمع- منظوم کلام- (م- عربی)-

اشغالول:(اَش-غا-ل-ول)مصدر متعدی- (۱)نیول- (۲)لاندې کول- (۳)تصرف کول- (م- عربی اشغال)-

اشغالولے:(اَش-غا-ل-وَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اشغالولی- مؤنث اشغالولې- وګوری: اشغالول-

اشغالون:(اَش-غا-لَ-وَن)حاصل مصدر- وګوری: اشغالول-

اشغالونګ:(اَش-غا-لَ-وَنګ)حاصل مصدر- وګوری: اشغالول-

اشغالونه:(اَش-غا-لَ-وَنه)حاصل مصدر- وګوری: اشغالول-

اشغالونکے:(اَش-غا-لَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اشغالونکی- مؤنث اشغالونکې- وګوری: اشغالول-

اشغالېدل:(اَش-غا-لې-دَل)مصدر لازم- (۱)نیولے کېدل- (۲)لاندې کېدل- تصرف کېدل (افغانستان)-

اشغالېدلے:(اَش-غا-لې-دَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اشغالېدلی- مؤنث اشغالېدلې- وګوری: اشغالېدل-

اشغالېدن:(اَش-غا-لې-دَن)حاصل مصدر- وګوری: اشغالېدل-

اشغالېدنګ:(اَش-غا-لې-دَنګ)حاصل مصدر- وګوری: اشغالېدل-

اشغالېدنه:(اَش-غا-لې-دَنه)حاصل مصدر- وګوری: اشغالېدل-

اشغالېدونکے:(اَش-غا-لې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اشغالېدونکی- مؤنث اشغالېدونکې- وګوری: اشغالېدل-

اشک:(آ-شک)اسم- واحد- جمع- هغه اخښلے اوړهٔ چې دَ وریژو دَ دېګ خُلهٔ پرې بندوی-

اشکال:(اَش-کال)اسم- جمع- مذکر- صورت- واحد شکل- (م- عربی)-

اشکال:(اِش-کال)اسم- مشکلونه- ګرانونه- (م- عربی)-

اشکونے:(اَش-کو-نے)اسم- واحد- مذکر- (۱)سرشوکاری- سرشوکانی-سرشکونے- (۲)دَ ماشومانو یوه لوبه چې یو هلک یو کاڼے لرې ارتاؤ کړی- بیا ټول هلکان ورپسې ورمنډه کړی- هر څوک چې هغه کاڼے را واخلی نو هلکان د هغهٔ غوږونه تاووی- او وېښتهٔ یې شوکوی او دا کوشش کوی چې هغهٔ نه کاڼے واخلی- هر یو هلک چې کاڼے بیرته ارتاوونکی ته وورسوی- نو دَ هغهٔ شی- خرړونه ګیټی خرړولې ګیټی- تور کاڼے-

اشکے:(اَش-کے)دَ تحسین کلمه- شاباشے-

اشلوک:(اَش-لوک)اسم- جمع- مذکر- (۱)منظوم کلام- (۲)دَ هندوانو دَ کتاب "وید" ایت (م- سنسکرت)- (۳)بدله- شعر-

اشنا:(اَش-نا)اسم- واحد- مذکر- دَ بېګانه ضد- پېژندګلو- پېژندوی- دوست- یار- خبردار- هغه نَر یا ښځه چې بل نر یا ښځې سره جنسی محبت کوی- جمع اشنایان-

اشنا پرست:(اَش-نا-پَرَست)اسم صفت- وفادار- قدردان- دَ ملګرو قدر کُونکے-

اشناکول:(اَش-نا-کَول)مصدر متعدی- دوست کول- ملګرے کول- پېژندګلو کول-

اشناکېدل:(اَش-نا-کې-دل)مصدر لازم- دوست کېدل- ملګرے کېدل- پېژندګلو کېدل-

اشنان:(اَش-نان)اسم- جمع- مذکر- زومی- غاسول- پروخه- یو واښهٔ چې وَسوزی نو ایره یې دَ جامو پهٔ وینځلو کښې بکارولے شی- نباتاتی نوم مانی سوېس افسی نیلس (یو قسم)- (م- فارسی)-

اشنائی:(اَش-نا-ئی)اسم- واحد- مؤنث- پېژندګلی- پېژندګلوی- یارانه دوستانه- جمع اشنایانې-

اشنایا:(اَش-نا-یا)اسم- واحد- مذکر- پېژندګلی- اشناکېدنه- دوستی کونه-

اشنل:(اَش-نل)مصدر- وګوری: اوشنل-

اشو:(اَ-شو)اسم- پهٔ کپړه، صافی، لته یا بل څهٔ څیز دَ کور دَ خونې یا انګڼ پا کونه- (م- فارسی)- (۲)دَ کتاب حاشیې- (جمع)- (م- حاشیه عربی)- (۳)مقدس- پاک- سپېځلے- (صفت)-

اشوا:(اَش-وا)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- شرمنده- رسوا-

اشواتوب:(اَش-وا-توب)اسم- شرمندګی- رسوائی- اشواتیا-

www.pukhto.net

اشواتیا:(اَش-وا-تیا)اسم- وګورئ اشواتوب-

اشواره:(اَش-وا-ره)اسم- واحد- مؤنث- بې حیاء- بې شرمه ښځه- جمع اشوارې-

اشواینه:(اَش-وا-یِنه)اسم صفت- وګورئ اشوا (م- غالباً د عربي انشا)-

اشوب:(آ-شوب)اسم- واحد- مذکر- اټکل- پېلات- شور و غوغا- الفاز تلماز- فتنه او فساد- انقلاب- (م- فارسي)-

اشوراند:(آ-شو-راند)اسم صفت- واحد- مذکر- وران- وران کارے- جمع اشوراندی- مؤنث اشورانده- جمع مؤنث اشوراندې-

اشورګ:(اَش-وړګ)اسم- واحد- مذکر- هغه دوائي چې د اوری، حلق او غاښونو د علاج د پاره پکارولے شي- (۲)دوره-

اشورګ:(آ-شو-رګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)ښه رګ- غټ رګ- (۲)حرکت- خوزبدنه-

اشول:(آ-شول)اسم- واحد- مذکر- چغې- ماري- ژړا- فریاد- شور و غوغا- جمع اشولونه-

اشول:(آ-شول)اسم- نس خوږے- پېچش- شوله-

اشویرانګ:(اَش-وی-رانګ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ اښویران-

اشوبشانے:(اَش-وی-شا-نے)اسم- واحد- مذکر- شک- ګومان- تشویش- جمع اشوبشانی-

اشوبشن:(اَش-وی-شن)اسم فاعل/صفت- واحد- مذکر- تشویش کونکے- شک کونکے- ګومان کونکے-

اشوبشے:(اَش-وی-شے)اسم- جمع- مؤنث- اکاځی- نښې- پوهېدنه-

اشه:(اَشه)اسم صوت- واحد- مؤنث- د خرهٔ شړلو آواز- اڅه- جمع اشې-

اشیا:(اش-یا)اسم- جمع- مذکر- (۱)څیزونه- شایونه- شیونه- (۲- صفت)بې بنې توبنې- بې کاره- فضول- (۳)بلا- بوه- اشا-

آشیانه:(آش-یا-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ځاله- مځاله- منځولے- جاله- (۲)کور- د استوګې ځائې-

اشے ماشے:(اشے-ماشے)اسم- واحد- مذکر- د ماشومانو د یوې لوبې نامه-

اښ:(اَښ)اسم- واحد- مذکر- فکر- تأمل- سوچ-

اښ:(اَښ)حرف نداء- د خرهٔ او اوښ د شړلو یا منع کولو د پاره یو آواز-

اښکی:(اَښ-کی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ اوښکه-

اښوه:(اَښ-وه)اسم- تلوسه- د زړهٔ عوارونه- تمنّا- آرزو-

اښویران:(اَښ-وی-ران)اسم- (۱)اشویرانګ- وینا- خبرې- ګفتګو- قیصې قطارې- (۲)ګړبګړ- کوږ-

اښے:(اَښے)اسم- واحد- مذکر- دمه- آرام- پوه لګونه- څهٔ ساعت تېرونه- سوکه توب- سابله-

اصحاب:(اص-حاب)اسم- جمع- مذکر- (۱)دٔ صاحب جمع الجمع- ملګرې- ملونه- یاران- (۲)دٔ حضور صلی الله علیه وسلم پهٔ مبارکه زمانه کښې مسلمانان شوی او دٔ ایمان پهٔ حالت کښې وفات شوی کسان- مؤنث صحابیه- جمع صحابیانې-

اصحاب صفه:(اص-حا-بې-صُف-فا)اسم- جمع- دٔ اصحابو هغه ټولے چې هر وخت به پهٔ مسجد نبوی کښې پهٔ عبادت کښې مشغول وٗ-

اصحاب فیل:(اص-حا-بې-فیل)اسم- جمع- د هاتیانو خاوندان- د ابرهه لښکر-

اصحاب کهف:(اص-حا-بې-ک-هف)اسم- دٔ غار خاوندان- دٔ جهلې زمانې هغه مسلمانان چې پهٔ قرآن شریف کښې یې پهٔ سورة کهف کښې قیصه بیان شوې ده-

اصرار:(اص-رار)اسم- (۱)ضد- تکرار- ټینګار- (۲)تاکید- (م- عربي)-

اصراف:(اص-راف)اسم- خرڅ کونه- صرف کونه- (م- عربي)-

اصطباغ:(اص-طِ-باغ)اسم- دٔ مسیحیت یو مذهبي رسم چې پهٔ ماشوم دٔ نامې ایښولو یا دٔ چا دٔ مسیحیت دٔ اختیارولو پهٔ وخت ادا کولے شي- ماشوم او مسیحیت قبلونکے پهٔ اُبو رنګولے شي- بپتسمه- (م- عربي)-

اصطبل:(اص-طَ-بل)اسم- واحد- مذکر- طویله- طبیله- دٔ اسونو دٔ ساتنې ځائې-

اصطلاح:(اص-ط-لاح)اسم- واحد- مؤنث- دٔ یوې علمي یا فني پلې لهٔ خوا یو لفظ دٔ خپل اصل مفهوم نه بهېر پهٔ نورو معنو کښې استعمالونه- جمع اصطلاحات- (م- عربي)-

اصطلاحي:(اص-ط-لا-حي)اسم صفت- دٔ اصطلاح سره تعلق لرونکے- وګورئ اصطلاح-

اصل:(ا-صل)اسم- واحد- مذکر- (۱)توخے- جرړه- جړه- بېخ- بنیاد- (۲)نسب- منبع- (۳)موده-

اصل:(ا-صل)اسم- واحد- مذکر- زرکانے- دٔ سرو زرو دٔ اصلیت معلومونکے کانے-

اصلاً:(اص-لن)متعلق فعل- پهٔ اصل پول- (۲)مرکز- (۳)مېخ کله-

اصلاح:(اص-لاح)اسم- صحیح کونه- سلح راوستنه- سمونه- نقص لرې کونه- (م- عربي)-

اصلاحي:(اص-لا-حي)اسم صفت- اصلاح سره متعلق- وګورئ اصلاح-

اصلي:(اص-لي)اسم صفت- خالص- سوچه- دٔ نقلي ضد-

اصلي:(اص-لي)اسم صفت- واحد- مؤنث- یو تُخم چې دٔ ځناور ریځې دٔ پاره استعمالیږي-

اصلیت:(اص-لي-یت)اسم- حقیقت- خالص توب- (م- عربي)-

اصناف:(اص-ناف)اسم- جمع- مذکر- قسمونه- واحد صنف- (م- عربي)-

اصنام:(اص-نام)اسم- جمع- مذکر- دٔ کاڼي بُوتان- (۲) معشوقې (شاعرانه)- د صنم جمع- (م- عربي)-

اصوات:(اص-وات)اسم- جمع- مذکر- آوازونه- واحد صوت-

اصول:(ا-صول)اسم- جمع- مذکر- دٔ اصل جمع- قاعدې- قانون- آئین- لار- اساسات- بنادونه- طریقې- جمع اُصولونه-

ئ: (ئی-رل)، ي: (هي-ره-ول)، ې: (بیا-لې)، ۍ: (تن-دۍ) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

اصولاً:(أ-صو-لن)متعلق فعل- دَ أصولو په ړول-

اصولنامه:(أ-صول-نا-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)منشور- لائحه- اساسنامه- تعلیمات نامه- (۲)دَ دولتي تشکیل مربوط مقررات- (افغانستان)-

اصولی:(أ-صو-لی)صفت- دَ اصول سره متعلق- په أصولو ټینګ ولاړ- دَ أصولو دَ علم ماهر-

اصیل:(أ-صیل)اسم صفت- مذکر- (۱)دَ مرئي ضد- (۲)دَ سرکش ضد- اموخته شوے- دَ ښهٔ نسب سره متعلق- سوچه- درونډ- شریف-

اصیل توب:(أ-صیل-توب)اسم- درونډوالے- ښهٔ سړیتوب- ښهٔ والے- سوچه والے- اصیل والے- اموخته والے-

اصیل والے:(أ-صیل-وا-لے)اسم- وګورئ اصیل توب-

اضافت:(ا-ضا-فت)اسم- زیاتوښل- تهنه- پورې کونه- نسبت کونه- یو څیز بل سره نښلونه- (عربی)-

اضافه:(ا-ضا-فه)اسم- زیاتے- زیاتی- ترقی- (م- عربی)-

اضافي:(ا-ضا-في)صفت نسبتی- معه صفت چې اصلی نهٔ وی- (۲)مددګار- مددکونکے- (۳)زیاتی- فالتو- (م- عربی)-

اضافیت:(ا-ضا-فی-یت)اسم- (۱)زیاتوالے- زیاتے- (۲)دَ آئن سټائن مشهوره نظریه چې دَ هغې مطابق په کائناتو کښې حرکت اضافی او نسبتی نوعیت لری- (م- عربی)-

اضحیٰ:(أض-حا)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ لوئ اختر قربانی- (۲)قربانی- (م- عربی)-

اضداد:(اض-داد)اسم- جمع- مذکر- متضاد ټکیرونه- واحد ضد-

اضطراب:(اض-ط-راب)اسم- (۱)تراره- ترهورتیا- پرېشانی- (۲)برقی اضطرابات- برقی چپه- شاټ- جمع اضطرابات- (م- عربی)-

اضطرابی حالت:(اض-ط-را-بی-حا-لت)اسم مرکب- دَ بې آرامی حالت- هنګامی حالت- (م- عربی)-

اضطرار:(اض-ط-رار)اسم- بې قرری- اوتری- بې اختیاری- (م- عربی)-

اضطراری:(اض-ط-را-ری)اسم- د اضطرار په ړول- اوتری- (م- عربی)-

اضل:(ا-ضل)اسم تفضیل- ډېر ګمراه- ډېر بېوتندلے- (م- عربی)-

اضلاع:(اض-لاع)اسم- جمع- مذکر- بسی- طرفونه- د ضلع جمع- خنو ملکونو کښې دَ یو جغرافیائی وحدت نوم- (م- عربی)-

اضمحلال:(اض-مح-لال)اسم- سُستی- پژمردګی- کاهلی- کمزوری- (م- عربی)-

اطاعت:(ا-طا-عت)اسم- منته- غاړه ایښودنه- فرمانبرداری- (م- عربی)-

اطراف:(أط-راف)اسم- جمع- مذکر- (۱)اړخونه- طرفونه- لرې خلیونه- واحد طرف- (۲)خوا و شا- (۳)په باره کښې- (م- طرف عربی/فارسی)-

اطرافی:(اط-را-فی)اسم- (۱)دَ ښار نه دَ باندې وسېدونکے- (۲)دَ کلی وسېدونکے-

اطفال:(أط-فال)اسم- جمع- مذکر- (۱)واړهٔ ماشومان- بچی- (۲)انا پوهه- واحد طفل- (م- عربی)-

اطلاع:(اط-لاع)اسم- خبر- نوټس- اعلان- خبرداری- جمع اطلاعات- [م- عربی اطّلاع (افتعال باب)]-

اطلاعاً:(اط-لا-عن)متعلق فعل- دَ اطلاع په ړول-

اطلاعات:(اط-لا-عات)اسم- جمع- وګورئ اطلاع-

اطلاعنامه:(اط-لاع-نا-مه)اسم- خبر نامه- حکم نامه-

اطلاق:(اط-لاق)اسم- عامه معنٰی- دَ یوې معنې په یو لفظ یا کار برابرېدنه- د یو قانون په یو عمل برابرېدنه- (م- عربی)-

اطلس:(أط-لس)اسم- واحد- مذکر- (۱)یو قسم توره ځلېدونکې ریښمی کپړه- (۲)ساده بې نقشه- (۳)دَ یو سمندر نامه-

اطلسی:(أط-لسی)اسم صفت- دَ اطلس سره متعلق- (م- عربی)-

اطمینان:(اط-می-نان)اسم- تسلی- دلاسه- صبر- ډاډ- (م- عربی)-

اطوار:(اط-وار)اسم- جمع- مذکر- (۱)روشونه- طور- طریقې- دَ طور جمع- (۲)عادتونه-

اطهار:(أط-هار)اسم- جمع- مذکر- دَ طاهر جمع- پاک سړی- (م- عربی)-

اطهر:(اط-هر)اسم تفضیل/صفت- ډېر پاک- زیات پاکیزه- (م- عربی)-

اظلم:(أظ-لم)اسم صفت- (۱)ډېر ظالم- (۲)تکلیف کونکے- (م- عربی)-

اظهار:(اظ-هار)اسم- (۱)څرګندونه- ښکاره کونه- (۲)بیان ورکونه- (۳)شهادت ورکونه- زباني بیان- (م- عربی)-

اظهار نامه:(اظ-هار-نا-مه)اسم- واحد- مؤنث- اعلان- اشتهار- جمع اظهار نامې-

اظهارول:(اظ-ها-رول)مصدر متعدی- ظاهرول- پرانستل- څرګندول- ښکاره کول- (م- عربی)-

اظهارولے:(اظ-ها-رو-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اظهارولی- مؤنث اظهارولې- وګورئ اظهارول-

اظهارون:(اظ-ها-رون)حاصل مصدر- وګورئ اظهارول-

اظهارونګ:(اظ-ها-رونګ)حاصل مصدر- وګورئ اظهارول-

اظهارونه:(اظ-ها-رو-نه)حاصل مصدر- وګورئ اظهارول-

اظهارونکے:(اظ-ها-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اظهارونکی- مؤنث اظهارونکې- وګورئ اظهارول-

اظهارېدل:(اظ-ها-رې-دل)مصدر لازم- ظاهرېدل- څرګندېدل- ښکاره کېدل- (م- عربی)-

اظهارېدلے:(اظ-ها-رې-د-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اظهارېدلی- مؤنث اظهارېدلې- وګورئ اظهارېدل-

اظهارېدن:(اظ-ها-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ اظهارېدل-

اظهارېدنګ:(اظ-ها-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ اظهارېدل-

اظهارېدنه:(اظ-ها-رې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ اظهارېدل-

اظهارېدونکے:(اظ-ها-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع

www.pukhto.net

اظهارېدونکی- مؤنث اظهارېدونکې- وګورئ اظهارېدل-

اظهارېدهٔ:(اِظ-ها-رې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ اظهارېدل-

اظهر:(اَظ-هَر)اسم صفت تفضیل- ډېر ظاهر- ښهٔ ښکاره- (م- عربی)-

اظهر من الشمس:(اَظ-هَ-رو-مِ-نَش-شَمس) اسم صفت- دٔ نمر نه زیات ښکاره- (م- عربی)-

اعاده:(اِ-عا-ده)اسم- (۱)دوباره کونه- سر دوباره کونه- ګرځونه- بیرته کونه- راپادونه- (۲)غور کونه- (۳)دٔ پور پرېکړه- (افغانستان)- (م- عربی)-

اعادی:(اِ-عا-دی)اسم صفت- جمع- مذکر- دښمنان- د عدو جمع- (م- عربی)-

اعانت:(اِ-عا-نَت)اسم- واحد- مذکر- حمایت- مدد- امداد- مرسته- کومک لاس ورکونه- (م- عربی)-

اعتبار:(اِع-تِ-بار)اسم- (۱)اتبار- ویسا- یقین- (۲)قیام- ثبات- (۳)لحاظ- (۴)زغومند-

اعتباری:(اِع-تِ-با-ری)صفت- دٔ اعتبار سره منسوب- باوری- یقینی- اتباری- (م- عربی)-

اعتدال:(اِع-تِ-دال)اسم- میانه روی- نهٔ کمی نهٔ بیشی- برابری- (م- عربی)-

اعتذار (اِع-تِ-ذار)اسم- واحد- مذکر- محسنه- غښتنه- عذر غښتنه-

اعتراض (اِع-تِ-راض)اسم- ګته نیونه- شک کونه- نکته چیني کونه- عیب راوکښنه- جمع اعتراضات- (م- عربی)-

اعتراف:(اِع-تِ-راف)اسم- منته- ذمه واری منته-اقرار کونه- تسلیمونه- اقبال کونه-

اعتقاد:(اِع-تِ-قاد)اسم- عقیده ساتنه- یقین لرنه- اعتبار کونه- باور کونه- (م- عربی)-

اعتکاف:(اِع-تِ-کاف)اسم- دٔ روژې دٔ میاشتې پهٔ اخری لسو ورځو کښې دٔ عبادت دٔ پاره د خلقو نه بیل (عام طور سره جماعت کښې) کښېناستنه- جمع اعتکافونه- (م- عربی)-

اعتماد:(اِع-تِ-ماد)اسم- ویسا- باور- یقین- اعتبار- (م- عربی)-

اعتمادی:(اِع-تِ-ما-دی)اسم صفت- دٔ اعتماد قابل- جمع اعتمادیان- (م- عربی)-

اعتنا:(اِع-تِ-نا)اسم- (۱)پام کونه- توجه کونه- (۲)پام- (م- عربی)-

اعجاز:(اِع-جاز)اسم- عاجز کونه- معجزه- کرامت- کرشمه- (م- عربی)-

اعجم:(اَع-جَم)اسم صفت- کړکېچر- هغه چې ژبه ئې ډېره نښلی- (م- عربی)-

اعجمی:(اَع-جه-مي)اسم صفت- (۱)چاړا- (۲)دٔ اعجم سره منسوب- (۳)غیر عرب- (م- عربی)-

اعجوبه:(اَع-جو-به)اسم- واحد- مؤنث- تماشا- عجیبه څیز- نا اشنا څیز- (م- عربی)-

اعداد:(اَع-داد)اسم- جمع- مذکر- شمېره- شمار- هندسې- عددونه- واحد عدد-

اعدام:(اِع-دام)اسم- دٔ مرګ سزا ورکونه- (افغانستان)- (م- عربی)-

اعدامول:(اِع-دا-م-وَل)مصدر متعدی- دٔ مرګ سزا ورکول (افغانستان)-

اعدامولے:(اِع-دا-مه-وَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اعدامولی- مؤنث اعدامولې- وګورئ اعدامول-

اعدامون:(اِع-دا-م-ون)حاصل مصدر- وګورئ اعدامول-

اعدامونګ:(اِع-دا-م-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ اعدامول-

اعدامونکے:(اِع-دا-م-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اعدامونکی- مؤنث اعدامونکې- وګورئ اعدامول-

اعدامونه:(اِع-دا-م-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ اعدامول-

اعدامېدل(اِع-دا-مې-دَل)مصدر لازم- دٔ مرګ سزا ورکېدل- (افغانستان)-

اعدامېدلے:(اِع-دا-مې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اعدامېدلی- مؤنث اعدامېدلې- وګورئ اعدامېدل-

اعدامېدن:(اِع-دا-مې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ اعدامېدل-

اعدامېدنګ:(اِع-دا-مې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ اعدامېدل-

اعدامېدونکے:(اِع-دا-مې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اعدامېدونکی- مؤنث اعدامېدونکې- وګورئ اعدامېدل-

اعدامېدهٔ:(اِع-دا-مې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ اعدامېدل-

اعراب:(اَع-راب)اسم- جمع- مذکر- دٔ اعرابی جمع- دٔ عربو کلی وال- بانډېچیان- (عربی)-

اعراب:(اِع-راب)اسم- واحد- مذکر- هغه نالی چې د زیمناکو زمکو دٔ زیم لرې کولو پهٔ غرض کنستلې شوې وی- لراب- اېراب- جمع اعرابونه- (م- عربی)-

اعراب:(اِع-راب)اسم- جمع- مذکر- دٔ حرفونو حرکات- زور، زېر، پېش وغېره- (م- عربی)-

اعرابی:(اَع-را-بي)اسم- واحد- مذکر- دٔ عربو دٔ بانډو وسېدونکے- بانډېچی- بدو- (عربی)-

اعراض:(اِع-راض)اسم- واحد- مذکر- (۱)مخ اړونه- مخ ګرځونه- څهٔ ته شا کونه- (۲)انکار- بې رغبتي-

اعراف:(اَع-راف)اسم- مذکر- (۱)دٔ جنّت او دوزخ تر مینځه یو مقام- (۲)دٔ قرآن پاک دٔ یو سورت نوم- (۳)وچت ځائې- (۴)دٔ چرګ چارخولګ- دٔ چرګ کړکره- دٔ چرګ تاج- (م- عربی)-

اعزاز (اِع-زاز)اسم- جمع- مذکر- عزت- مرتبه- رتبه- درجه- جمع الجمع اعزازات- (م- عربی)-

اعشاری:(اَع-شا-ری)صفت- (۱)لسو سره متعلق دٔ هندسو یوه طریقه چې دٔ صحیح عدد نه پس یو نقطه یا دٔ "،" نښه واچولے شی او لهٔ دې نه پس ته هره هندسه دٔ راتلونکی هندسې نه یو پهٔ لس زیاته وی- (۲)دٔ سکې، تول او ناپ هغه نظام چې پکښې مختلف یونټونو نه دٔ خپل ځان نه کم یونټونه

ی (ښی-رل)، ی (مې-ره-ول)، ی (پيا-لي)، ے (ټن-دې) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

یو پۀ لس زیات وی- (م- عربی)-
اعشاریه:(اِع-شا-ری-یه)اسم- هغه نقطه یا د "٫" نښه چې د صحیح هندسې نه پس د کسر ښکاره کولو د پاره لګی- (م- عربی)-
اعصاب:(اَع-صاب)اسم- جمع- مذکر- د عصب جمع- پلې- (م- عربی)-
اعصابی:(اَع-صا-بی)اسم صفت- د ریښو یا د پلو سره تعلق لرونکے (م- عربی)-
اعضا:(اَع-ضا)اسم- جمع- مذکر- اندامونه- د عضو جمع- غړی- (م- عربی)-
اعطا:(اِع-طا)اسم- بخښنه- ښانده- (م- عربی)-
اعظم:(اَع-ظَم)اسم صفت/تفضیل- (۱)ډیر لوئ- ډیر ستر- (۲)د خدائ پاک یو نوم-
اعظمی:(اَع-ظ-مي)اسم صفت- (۱)پۀ زیاته اندازه- زښت ډیر- خورازیات- (۲)آخرنۍ اندازه- وروستنے ټکے- پورتنۍ ګوکه (افغانستان)-
اعلام:(اِع-لام)اسم- واحد- مذکر- (۱)خبر- اګاهی- (۲)د علم جمع- جنډې- نومونه-
اعلامول:(اِع-لا-مَ-وَل)مصدر متعدی- (۱)خبرول- اګاه کول- (۲)مشهورول- معلومول- څرګندول- (م- عربی)-
اعلامولے:(اِع-لا-مَ-وَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اعلامولی- مؤنث اعلامولې- وګوری: اعلامول-
اعلامون:(اِع-لا-مَ-وَن)حاصل مصدر- وګوری: اعلامول-
اعلامونګ:(اِع-لا-مَ-وَنګ)حاصل مصدر- وګوری: اعلامول-
اعلامونکے:(اِع-لا-م-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اعلامونکی- مؤنث اعلامونکې- وګوری: اعلامول-
اعلامیه:(اِع-لا-می-یه)اسم- مؤنث- د څۀ واقعې پۀ باب کښې اطلاع خوریدنه- (م- عربی)-
اعلامیه:(اِع-لا-می-یه)اسم- واحد- مؤنث- هغه فیصله چې د دوو پلو یا دوو حکومتونو د کړه نظر پۀ بارئ کښې خوریږی- د حکومت یا کومې ولې یا ادارې لۀ خوا د عامې خبرتیا پۀ غرض نشر شوے اعلان-
اعلامیدل:(اِع-لا-مې-دَل)مصدر لازم- څرګندیدل- خبریدل- خبریدل- نشرکیدل- مشهوریدل- خوریدل-
اعلامیدلے:(اِع-لا-مې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اعلامیدلی- مؤنث اعلامیدلې- وګوری: اعلامیدل-
اعلامیدن:(اِع-لا-مې-دَن)حاصل مصدر- وګوری: اعلامیدل-
اعلامیدنګ:(اِع-لا-مې-دَنګ)حاصل مصدر- وګوری: اعلامیدل-
اعلامیدونکے:(اِع-لا-مې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اعلامیدونکی- مؤنث اعلامیدونکې- وګوری: اعلامیدل-
اعلامیدۀ:(اِع-لا-مې-دۀ)حاصل مصدر- وګوری: اعلامیدل-
اعلان:(اِع-لان)اسم- څرګندونه- ظاهرونه- پۀ جار خبر ورکونه- جار وهنه- (م- عربی)-

اعلانول:(اِع-لا-نَ-وَل)مصدر متعدی- ظاهرول- پۀ جارخبر ورکول- څرګندول- پۀ ډاګه وئیل-
اعلانولے:(اِع-لا-نَ-وَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اعلانولی- مؤنث اعلانولې- وګوری: اعلانول-
اعلانون:(اِع-لا-نَ-وَن)حاصل مصدر- وګوری: اعلانول-
اعلانونکے:(اِع-لا-نَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اعلانونکی- مؤنث اعلانونکې- وګوری: اعلانول-
اعلانونګ:(اِع-لا-نَ-وَنګ)حاصل مصدر- وګوری: اعلانول-
اعلانوۀ:(اِع-لا-نَ-وۀ)حاصل مصدر- وګوری: اعلانول-
اعلیٰ:(اَع-لا)اسم تفضیل/صفت- مذکر- ډیر وُچت- ډیر لوړ- زیات ښۀ- ډیر ښۀ- ډیر لوئ- (م- عربی)-
اعلانیدل:(اِع-لا-نې-دَل)مصدر لازم- ظاهریدل- پۀ جار خبر ورکیدل- څرګندیدل- ښکاره کیدل-
اعلانیدلے:(اِع-لا-نې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اعلانیدلی- مؤنث اعلانیدلې- وګوری: اعلانیدل-
اعلانیدن:(اِع-لا-نې-دَن)حاصل مصدر- وګوری: اعلانیدل-
اعلانیدنګ:(اِع-لا-نې-دَنګ)حاصل مصدر- وګوری: اعلانیدل-
اعلانیدونکے:(اِع-لا-نې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اعلانیدونکی- مؤنث اعلانیدونکې- وګوری: اعلانیدل-
اعلانیدۀ:(اِع-لا-نې-دۀ)حاصل مصدر- وګوری: اعلانیدل-
اعمال:(اَع-مال)اسم- جمع- مذکر- (۱)کړه- چارې- کارونه- د عمل جمع- (۲)د انجیل د یو کتاب نوم-
اعمالنامه:(اَع-مال-نا-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د عملونو کتاب- (۲)هغه کتاب چې پکښې فرښتې د انسان عملونه لیکی- (م- عربی)-
اعمیٰ:(اَع-ما)صفت- ړوند- نابینا- (م- عربی)-
اعنی:(اَع-نی)فعل- واحد- متکلم- زۀ یې دا معنی کوم (د عالمانو اصطلاح) (م- عربی)-
اعوان:(اَع-وان)اسم- جمع- مذکر- مرسته کونکی- (م- عربی)-
اعوذ:(اَ-عوذ)فعل- واحد- متکلم- زۀ پناه غواړم- (م- عربی)-
اعوذ بالله:(اَ-عو-ذُ-بِل-لا)زۀ د خدای پناه غواړم- (م- عربی)-
اعیان:(اَع-یان)اسم صفت- جمع- مذکر- مشران- غټان- بزرګان-
آغا:(آ-غا)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)بادار- څښتن- مالک- خاوند- (۲)ښاغلے- محترم- معزز- (۳)پلار ته د خطاب آواز- ابا جان- ابک- ابکو- ابکے- وادګ- بابک- (م- ترکی- آغا)-
اغار:(اَ-غار)اسم- واحد- مذکر- چینیا- چینی- پانه- جمع اغارونه-
اغاره:(اَ-غا-ره)اسم- واحد- مؤنث- رینه- د ګیلو ګنډلو یو اوزار-
اغاز:(اَ-غاز)اسم- واحد- مذکر- شروع- ابتدا- (م- عربی)-
اغال:(اَ-غال)اسم- واحد- مذکر- هغه ځائ چې پۀ صحرا کښې پکښې د شپې

زبر "(ځ-بۀ-ره)"، "زورکے"(شل)، "پیش"(نو-کا-ره)، زیر "(کَ-سات)"، جزم "(سکون)"، ۀ(زره)، ۀ(پو-سې-دۀ)

www.pukhto.net

کړي بزې راپېښې وي- کاش- پښغالے-

اغ چوغ:(اغ-چوغ)اسم- چوغه رسه- جک حک-

اغ دغ:(اغ-دغ)اسم- واحد- مذکر- (۱)مکر- فریب- دوکه- اغدرغ- اغدوغ- (۲)چلوبې- (۳)انکی سرکی-

اغ دوغ:(اغ-دوغ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ اغ دغ-

آغر (آ-غر)اسم- واحد- مذکر- (۱)حوړ- ماندہ- د سېلابی اُبو د تېرېدو ځائې ام- فارسی)- (۲- صفت)قابو- تیار-

اغر:(أ-غر)فعل- د لیندې په زې غشے د ویشتلو د پاره راکښنه-

اغراض:(أغ-راض)اسم- جمع- مذکر- ارتیاګانې- حاجتونه- غرضونه- مقصدونه- ارادې- نیتونه- (م- عربي)-

اغراق:(اغ-راق)اسم- (۱)پربونه- (۲)مبالغه کونه- پوزې ویشتنه- (م- عربي)-

اغرکول:(ا-غر-کول)مصدر ترکیبي- غشے په زې سورول-

اغروغ:(اغ-روغ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ اغ دغ-

اغریس:(أ-غ-ریس)اسم- واحد- مذکر- د لیندې په زې ختلے غشے- (م- فارسی)-

اغز (أ-غز)اسم- واحد- مذکر- غز- اغوز- اکوړ- نباتاتی نوم جګ لاتزرے کیا (JUGLANSREGIA)-

اغزکے:(اغ-ز-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ازغکے-

اغزنول:(اغ-زغنه-ول)مصدر متعدي- ازغن کول- ازغی لګول-

اغزنولے:(أغ-زغنه-وشلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اغزنولي- مؤنث اغزنولې- وګورئ اغزنول-

اغزنون:(اغ-زغنه-ون)حاصل مصدر- وګورئ اغزنول-

اغزنونکے (أغ-زغنه-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اغزنونکي- مؤنث اغزنونکې- وګورئ اغزنول-

اغزنونګ (اغ-زغنه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ اغزنول-

اغزنېدل (اغ-زغ-نې-دل)مصدر لازم- ازغن کېدل- ازغی لګېدل-

اغزنېدلے:(أغ-زغنې-دشلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اغزنېدلي- مؤنث اغزنېدلې- وګورئ اغزنېدل-

اغزنېدن:(أغ-زغنې-دن)حاصل مصدر- وګورئ اغزنېدل-

اغزنېدنګ (اغ-زغنې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ اغزنېدل-

اغزنېدنه (اغ-زغنې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ اغزنېدل-

اغزنېدونکے (اغ-زغ-نې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اغزنېدونکي- مؤنث اغزنېدونکې- وګورئ اغزنېدل-

اغزنېده:(اغ-زغنې-ده)حاصل مصدر- وګورئ اغزنېدل-

اغزی:(أغ-زی)اسم- جمع- مذکر- وګورئ ازغے-

اغزی اغزی:(أغ-زی-أغ-زی)صفت- لهٔ اغزیو ډک- خاردار-

اغزیانه:(أغ-زیا-نه)اسم صفت- واحد- مؤنث- زیکه بیګه- ازغنه- اغزنه- د ازغو ډکه- ازغن ځائې-

اغزین:(اغ-زین)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ازغی یا اغزی لرونکے- (۲)لښه دار-

اغزے:(اغ-زے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ازغے- جمع اغزی-

اغول:(ا-غ-ول)مصدر- وګورئ اخشل- (عامیانه)-

اغولے:(ا-غ-وشلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اغولي- مؤنث اغولې- وګورئ اغول-

اغون:(ا-غ-ون)حاصل مصدر- وګورئ اغول-

اغونګ:(ا-غ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ اغول-

اغونه (ا-غ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ اغول-

اغونکے (ا-غ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اغونکي- مؤنث اغونکې- وګورئ اغول-

اغستل:(ا-غس-تل)مصدر- جسم یا بل کوم څیز په جامو یا په بل څیز پټول-

اغستل:(أ-غس-تل)مصدر- وګورئ اخېستل- (عامیانه)-

اغستلے:(أ-غس-تشلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اغستلي- مؤنث اغستلې- وګورئ اغستل-

اغستلے:(ا-غس-تشلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اغستلي- مؤنث اغستلې- وګورئ اخېستل-

اغستن:(ا-غس-تن)حاصل مصدر- وګورئ اغستل-

اغستن:(ا-غس-تن)حاصل مصدر- وګورئ اخېستل-

اغستنګ:(أ-غس-تنګ)حاصل مصدر- وګورئ اغستل-

اغستنګ:(ا-غس-تنګ)حاصل مصدر- وګورئ اخېستل-

اغستنه (ا-غس-تنه)حاصل مصدر- وګورئ اغستل-

اغستنه:(ا-غس-تنه)حاصل مصدر- وګورئ اخېستل-

اغستونکے:(أ-غس-تون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اغستونکي- مؤنث اغستونکې- وګورئ اغستل-

اغستونکے:(ا-غس-تون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اغستونکي- مؤنث اغستونکې- وګورئ اخېستل-

اغسته:(أ-غس-ته) حاصل مصدر- وګورئ اغستل-

اغسته:(أ-غس-ته)حاصل مصدر- وګورئ اخېستل-

اغسته (أ-غش-ته)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- الوده- لړلے تېلے- ککړ- (م- فارسی)-

اغښل (اغ-ښل)مصدر- وګورئ اغښل-

اغښلے (اغ-ښشلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اغښلي- مؤنث اغښلې- وګورئ اغښل-

اغښن (اغ-ښن)حاصل مصدر- وګورئ اغښل-

اغښنګ (اغ-ښنګ)حاصل مصدر- وګورئ اغښل-

اغښنه (اغ-ښنه)حاصل مصدر- وګورئ اغښل-

اغبونکے:(أغ-بون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اغبونکي-

ی" (ښی-رل)، ې"(مې-ره-ول)، ی"(پیا-لې)، ے"(تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

مؤنث اغېږونکې- وګورئ اغېږل-

اغل:(ا-غل)اسم- واحد- مذکر- (۱)ېښوغالے- ښپول- چار- کاره- د غوږ بزر د ودرولو ځای- (۲)اغوجل-

اغلاط:(اَغ-لاط)اسم- جمع- مذکر- تېروتنې- خطاوتنې- غلطۍ- (م- عربي)-

اغلام:(اِغ-لام)اسم- لواطت کونه- هلکانو سره بد فعلي کونه- بچه بازي- (م- عربي)-

اغلامی:(اِغ-لا-مي)اسم صفت- هلکانے- بچه باز- جمع اغلامیان- (م- عربي)-

اغلب:(اغ-لب)اسم تفضیل صفت- (۱)ډېر برلاسے- غالب تر- قوي- (۲)ګومان- د یقین سره نژدې- (م- عربي)-

اغلز:(اَغ-لز)اسم صفت- واحد- مذکر- مکار-

اغلط:(اَغ-لط)اسم تفضیل صفت- ډېر غلط- ډېر خطا- (م- عربي)-

اغلف:(اَغ-لف)اسم صفت- دوه زړے- منافق- (م- عربي)-

اغله:(آ-غه-له)اسم صفت- واحد- مؤنث- ښکلې- ښېځې- ښائسته (ښځه)- جمع آغلې-

اغلے:(آ-غه-لے)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ آغله- جمع آغلي-

اغما:(اِغ-ما)اسم- بې سده کونه- بې هوشه کونه- (م- عربي)-

اغمار:(اَغ-مار)اسم- واحد- مذکر- غندنه- عمازي کونه-

اغماض:(اِغ-ماض)اسم- سترګې پټونه- بې پروائي کونه- (م- عربي)-

اغند:(ا-غند)اسم- هغه بنیاد چې د وروستارو په زیاتولو سره د اغستل د حال او امر ګرامري شکلونه جوړه وي- لکه اغندي- واغنده-

اغنیا:(اَغ-نی-یا)اسم صفت- جمع- مذکر- دولت مند- مالداره- بډایان- (م- عربي)-

اغوا:(اِغ-وا)اسم- (۱)پټونه- د لارې یستنه- لمسونه- وُچتونه- (۲)تښتونه- (م- عربي)-

اغوت:(ا-غوت)صفت- جمع- مذکر- غنم یا بله غله چې د ډېر پروت والي له کبله نمژنه شي او روټۍ ې بې خونده او نوبږنه وي- چپېښنه غله- زړه غله-

اغود:(آ-غود)اسم صفت- هغه لوندهٔ غنم چې د تېغو رایستلو نه پس وُچ کړے شي- د سرن حلوا د جوړولو د پاره دغه طریقه پکارولے شي-

اغودول:(آ-غو-د-ول)مصدر متعدي- غنم لوندول- له تېغو یستلو نه پس بیا وُچول-

اغودولے:(آ-غو-د-وه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اغودولي- مؤنث اغودولې- وګورئ اغودول-

اغودون:(آ-غو-د-ون)حاصل مصدر- وګورئ اغودول-

اغودونکے (آ-غو-د-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اغودونکي- مؤنث اغودونکې- وګورئ اغودول-

اغودونګ:(آ-غو-د-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ اغودول-

اغودونه:(آ-غو-د-وه-نه)حاصل مصدر- وګورئ اغودول-

اغودېدل:(آ-غو-دي-دل)مصدر لازم- غنم لوندېدل- له تېغو یستلو نه پس بیا وُچېدل-

اغودېدلے:(آ-غو-دي-دهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اغودېدلي- مؤنث اغودېدلې- وګورئ اغودېدل-

اغودېدن:(آ-غو-دي-دن)حاصل مصدر- وګورئ اغودېدل-

اغودېدنګ:(آ-غو-دي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ اغودېدل-

اغودېدنه:(آ-غو-دي-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ اغودېدل-

اغودېدونکے:(آ-غو-دي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اغودېدونکي- مؤنث اغودېدونکې- وګورئ اغودېدل-

اغودېده:(آ-غو-دي-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ اغودېدل-

اغور:(ا-غور)اسم- واحد- مذکر- له لرګي جوړه د نالستې پېړۍ یا چوکۍ چې عام طور سره د پخلی په ځای کښې پکارولے شي-

اغور:(آ-غور)اسم- مذکر- اراده- تکل- د سفر تکل- (م- فارسي)-

اغور (ا-غور)اسم- واحد- مذکر- (۱)د لرګي لنګرۍ- د لرګي اونګ یا بغرۍ- (۲)انتي- د لرګي کاسه-

اغوړ:(آ-غوړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)دښمنی- اینګ- غُچ- عوږ- (۲)بدله- انتقام-

اغوړل:(ا-غو-ړل)مصدر- غوړل- غښتل- تاوول (مزے)- (عامیانه)-

اغوړلے:(ا-غو-ړهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اغوړلي- مؤنث اغوړلې- وګورئ اغوړل-

اغوړن:(ا-غو-ړن)حاصل مصدر- وګورئ اغوړل-

اغوړنګ:(ا-غو-ړنګ)حاصل مصدر- وګورئ اغوړل-

اغوړنه (ا-غو-ړهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ اغوړل-

اغوړونکے:(ا-غو-ړون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اغوړونکي- مؤنث اغوړونکې- وګورئ اغوړل-

آغوز:(آ-غوز)اسم- کنډ- کانډیانے- د ورومبیو دریو ورځو پي-

اغوزین:(ا-غو-زین)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)اغزین- (۲- اسم)یو خاص قسم عشے-

اغوستل:(اَ-غوس-تل)مصدر- وګورئ اغستل-

اغوستلے:(اَ-غوس-تهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اغوستلي- مؤنث اغوستلې- وګورئ اغستل-

اغوستن:(اَ-غوس-تن)اسم- (۱)د اغستلو جامې یا بل کوم څیز- (۲- حاصل مصدر)وګورئ اغستل-

اغوستنګ:(اَ-غوس-تنګ)حاصل مصدر- وګورئ اغستل-

اغوستنه:(اَ-غوس-تهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ اغستل-

اغوسته:(اَ-غوس-تهٔ)حاصل مصدر- وګورئ اغستل-

اغوش:(آ-غوش)اسم- واحد- مذکر- غېږ- تخرګ- (م- فارسي)-

اغه:(آ-غه)ضمیر غائب- واحد- د هغه عامیانه شکل-

زبر (خ-بهٔ-ره)، زورکے (شل)، پېښ (نو-کا-ره)، زمر (کتاب)، جزم (شکون)، ه (ر-ره)، ۀ (دو-مې-دهٔ)

www.pukhto.net

اغه دغه:(ا-غه-ده-غه)صفت/متعلق فعل- وګورئ هغه دغه-

اغى:(آ-غى)اسم- (۱)زنا- (۲)خوشحالى- (۳)خوبى-

اغيار:(اَغ-يار)اسم- واحد- مذكر- (۱)د غير جمع چې پښتو کښې واحد استعماليږى- پردى- ناواقف- (۲)رقيب- دښمن- (عربى)-

اغيارى:(اَغ-يا-رى)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ځان غير يا پردے ګڼنه- (۲)دښمنى- تربګنى- مخالفت- (فارسى)-

اغېږ:(آ-غېږ)اسم- واحد- مذكر- (۱)بد هضمى- د خېټې خرابى- (۲)ضد- ځنو- كركه- خواتوري- بغض- كينه- دښمنى- اغور-

اغېړل:(اَ-غې-ړل)مصدر متعدى- (۱)اېړل- بد هضمه كول- (۲)كركه كول- خوا تورے كول- وېزاره كول-

اغېړلے:(اَ-غې-ړ-لے)اسم مفعول- واحد- مذكر- جمع اغېړلى- مؤنث اغېړلې- وګورئ اغېړل-

اغېړن:(اَ-غې-ړن)حاصل مصدر- وګورئ اغېړل

اغېړنګ:(اَ-غې-ړنګ)حاصل مصدر- وګورئ اغېړل

اغېړنه:(اَ-غې-ړ-نه)حاصل مصدر- وګورئ اغېړل

اغېړونکے:(ا-غې-ړون-کے)اسم فاعل- واحد- مذكر- جمع اغېړونكى- مؤنث اغېړونكې- وګورئ اغېړل

اغېړېدل:(اَ-غې-ړې-دل)مصدر لازم- (۱)بدهضمه کېدل- (۲)وېزاره کېدل- خوا تورے کېدل- کرکه کېدل-

اغېړېدلے:(اَ-غې-ړې-د-لے)اسم مفعول- واحد- مذكر- جمع امېړېدلى- مؤنث اغېړېدلې- وګورئ اغېړېدل-

اغېړېدن:(اَ-غې-ړې-دن)حاصل مصدر- وګورئ اغېړېدل-

اغېړېدنګ:(اَ-غې-ړې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ اغېړېدل-

اغېړېدنه:(اَ-غې-ړې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ اغېړېدل-

اغېړېدونکے:(اَ-غې-ړې-دون-کے)اسم- فاعل- واحد- مذكر- جمع اغېړېدونکى- مؤنث اغېړېدونکې- مؤنث اغېړېدونکې- وګورئ اغېړېدل-

اغېړېده:(ا-غې-ړې-ده)حاصل مصدر- وګورئ اغېړېدل-

اغېزن (اَ-غېز-ژن)اسم صفت- وګورئ اغېزه ناک-

اغېزه (ا-غې-زه)اسم- واحد- مؤنث- اثر- تاثير- جمع اغېزې-

اغېزه کونکے:(اَ-غې-زه-کُوون-کے)اسم فاعل/صفت- واحد- مذكر- اثر کونکے- تاثير کونکے-

اغېزه ناک:(اَ-غې-زه-ناک)اسم صفت- جمع- اغېزه ناکى- اثر کونکے- تاثير لرونکے- اغېزژن-

اغېژل:(اَ-غې-ژل)مصدر- بوژول- را جمع كول-

اغېژلے:(ا-غې-ژ-لے)اسم مفعول- واحد- مذكر- جمع اغېژلى- مؤنث اغېژلې- وګورئ اغېژل-

اغېژن:(اَ-غې-ژن)حاصل مصدر- وګورئ اغېژل-

اغېژنګ:(اَ-غې-ژنګ)حاصل مصدر- وګورئ اغېژل-

اغېژنه:(اَ-غې-ژ-نه)حاصل مصدر- وګورئ اغېژل-

اغېژونکے:(اَ-غې-ژون-کے)اسم فاعل- واحد- مذكر- جمع اغېژونکى- مؤنث اغېژونکې- وګورئ اغېژل-

اغېژه:(ا-غې-ژه)حاصل مصدر- وګورئ اغېژل-

اف:(اُف)حرف- (۱)د افسوس او حسرت کلمه- (۲)د ماشومانو ژبه کښې) ګرم-

اف اف:(اُف-اُف)د زيات افسوس او حسرت کلمه-

افات:(آ-فات)اسم- جمع- مذكر- د آفت جمع- مصيبتونه- بلاګانې- تکليفونه- مشکلات- (عربى)-

افاده:(ا-فا-ده)اسم- فائده رسونه- فيض رسونه- بيانونه- ادا کونه- ښکاره کونه- څرګندونه- (عربى)-

افاديت:(ا-فا-دى-يت)مصدر- فائده رسونه- مفيد کېدنه- (م- عربى)-

افاغنه:(اَ-فا-غِ-نه)اسم- جمع- مذكر- د افغان جمع- پښتانه- (م- عربى)-

افاق:(اٰ-فاق)اسم- جمع- مذكر- د اُفق جمع- وګورئ افق- (م- عربى)-

افاقه:(اَ-فا-قه)اسم- لږ بې هوشى، رنځ يا د طبيعت لږ خرابى ښه کېدنه- مرض کښې کمے راتلنه- (م- عربى)-

افاقى:(ا-فا-قى)اسم صفت- د افاق سره متعلق- عالمى- وسيع- (م- عربى)-

افت:(آ-فت)اسم- واحد- مذكر- (۱)بلاء- مصيبت- د خدائ قهر مثلاً قحط، بيمارى، بې اتفاقى- (۲)تکره- لائق (صفت)- (م- عربى)- په دويمه معنى کښې مغفن-

افتاب:(آف-تاب)اسم- واحد- مذكر- نمر- لمر- مېر- نور- نمېر- د نمر سترګه-

افتابى:(آف-تا-بى)اسم صفت- افتاب سره متعلق- (ش- فارسى)-

افتتاح:(اف-تت-تاح)اسم- پرانستنه- شروع کونه- لاس پورې کونه-

افتتاحى:(اف-تت-تا-حى)صفت- افتتاح سره متعلق- د ايډيټر د اخبار د پاره ليکلے شوے مضمون-

افتتاحيه:(اف-تت-تا-حى-يه)اسم- هغه مضمون چې ايډيټر د اخبار د پاره ليکلے وى-

افتخار:(اف-تخار)اسم- نازېدنه- وياړنه- فخر کونه- (م- عربى)-

افتخارى:(اف-تخا-رى)متعلق فعل/صفت- (۱)اعزازى- (۲)بې بدلې- مفت- بې پيسې- (۳)غير رسمى (غيرېتوب)- افغانستان-

افترا:(اف-ت-را)اسم- تور لګونه- تور پورې کونه- تهمت لګونه- دروغ جوړونه- (م- عربى)-

افتراق:(اف-ت-راق)اسم- بېلونه- بېلتون راوستنه- جدائى راوستنه- (م- عربى)-

افجه:(اف-جه)اسم- واحد- مؤنث- هغه فرضى شکل چې په پټى کښې د مارغانو د ويرولو د پاره جوړ کړے شوے وى- بړلک-

افراد:(اَف-راد)اسم- جمع- مذكر- (۱)د فرد جمع- وګړى- خلق- (۲)د ځنو

www.pukhto.net

پۀ خیال کښې د "افرا" دېو تلفظ-

افراط:(اِف-راط)اسم- تېرے- د حده وتنه- ډېر والے- زیات والے- د تفریط ضد- (م- عربی)-

افراطی:(اِف-را-طی)اسم صفت- افراط کونکے- دَ حد نه وتونکے- تېرے کونکے- زیاتی کونکے-

افرنګ:(اَف-رنګ)اسم- واحد- مذکر- پېرنګے- فېرنګے- یُورپی-

افرین:(آف-فه-رین)کلمه تحسین- شاباش- واه- کله کله طنزاً هم وئیلے شی- (م- فارسی)-

افزایش:(اف-زا-یِش)اسم- ډېر والے- زیات والے- کثرت- (م- فارسی)-

افزون:(اف-زُون)صفت- زیات- ډېر- (م- فارسی)-

افسانوی:(اَف-سا-نَ-وی)اسم صفت- غیر حقیقی- دَ افسانې سره متعلق- (م- فارسی)-

افسانه:(اَف-سا-نه)اسم- واحد- مؤنث- قیصه- دُ حقیقت ضد- ادبی اصطلاح کښې وړه قیصه-

افسانه کو:(اَف-سا-نه-کو)اسم فاعل صفت- افسانه وېونکے-

افسانه ګونی:(اَف-سا-نه-ګو-ئی)اسم- مؤنث- افسانه وئېنه-

افسانه نګار:(اَف-سا-نه-ن-ګار)اسم فاعل/صفت- افسانه لیکونکے-

افسر:(اَف-سَر)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)مشر- سردار- (۲)تاج- (۳)خول- ټوپل- قرقره- (م- فارسی)-

افسر توب:(اَف-سر-توب)اسم- مشر توب-

افسرتیا:(اَف-سَر-تیا)اسم- مشرتیا- (م- عربی افسر- انګریزی آفیسر)-

افسردګی:(اَف-سُر-دَ-ګی)اسم- واحد- مؤنث- پرېشانی- زبُون حالی- دلګیری- غمژن توب- غمګینی- نولژنتیا- (م- فارسی)-

افسرده:(اف-سُر-ده)اسم صفت- (۱)سوړ- مړاوے- (۲)کرنګ- کنګل- یخ بسته- (۳)غمژن- (م- فارسی)-

افسوز:(اَف-سوز)اسم- واحد- مذکر- (۱)خنګان- (۲)دَ خنګان ظاهرولو کلمه- (افسوس فارسی- تأسف عربی)-

افسوس:(اف-سوس)اسم- د غم، ارمان حسرت کلمه- (ش- فارسی)-

افسون:(اف-سُون)اسم- (۱)دم- سحر- جادو- منتر- (۲)مکر- حسد-

افسونګر:(اَف-سُون-ګر)اسم صفت- (۱)جادوګر- دم ګر- (۲)حیله باز- جمع افسون ګران- مؤنث افسون ګره-

افشان:(اَف-شان)اسم- دَ مقېش یا ګوټے وړې وړې زرې چې ښځې یُ دَ ښائست د پاره پۀ تندی لګوی او پۀ وېښتو یٔ دوړوی-

افضل:(اف-ضل)اسم تفضیل/صفت- ډېر غوره- بهتر- ډېر فضیلت لرونکے- (م- عربی)-

افطار:(اف-طار)اسم- روژه ماتونه- د روژې ضد-

افطاری:(اف-طا-ری)اسم- (۱)روژه ماتونه- (۲)دَ روژې ماتولو څیزونه- (م- عربی)-

افعال:(اف-عال)اسم- جمع- مذکر- کارُونه- د فعل جمع- (م- عربی)-

افغان:(اف-غان)اسم- واحد- مذکر- (۱)پښتون- جمع افغانان- (۲)دَ افغانستان وسېدونکے-

افغانی:(اَف-غا-نی)اسم صفت- (۱)دَ افغان سره نسبت لرونکے- (۲- اسم)پښتو ژبه- (۳)دَ افغانستان دَ سکې نوم-

افغانیت:(اَف-غا-نی-یت)اسم- پښتونولی-

افق:(اُ-فق)اسم- واحد- مذکر- کناره- غاړه- هغه ځائ چې آسمان او زمکه یو بل سره لګېدلی ښکاری- (م- عربی)-

افقی:(اُفُ-قی)اسم صفت- د افق سره متعلق- دَ عمُودی ضد-

افک:(ا-فک)اسم- واحد- مذکر- تور- تهمت- (عربی)-

افکار:(اَف-کار)اسم- جمع- مذکر- دَ فکر جمع- جاجونه- فکرونه- غور او فکر- (۲)خیالات- (م- عربی)-

اُف کول:(اُف-کَ-وَل)مصدر- افسوس کول-

افګار:(اف-ګار)صفت- ژوبل- زخمی- مجروح- (م- فارسی)-

افګانه:(اف-ګا-نه)اسم- هغه بې مودې بچے چې د ماده انسان یا حیوان د ګېډې نه غورځیږی- اچونے- (م- غالباً دَ فارسی افګنده)-

افلاس:(اِف-لاس)اسم- مُفلسی- غریبی- خواری- (م- عربی)-

افلاطون:(اَف-لا-طون)اسم- مذکر- (۱)دَ یونان مشهور حکیم (۴۲۷-۳۴۷ ق م)- لغوی معنی ارته سینه لرونکے- (یونانی)-

افلاک:(اَف-لاک)اسم- جمع- مذکر- دَ فلک جمع- آسمانونه- ګرځندولے- ګرخ- (م- عربی)-

افلت:(اف-لت)اسم- وکوری ابلت-

افلتی:(اف-له-تی)اسم- وګوری ابلتی-

افواج:(اَف-واج)اسم- جمع- مذکر- دَ فوج جمع- فوځونه- لښکرې- لښکرُونه-

افواه:(اَف-واه)اسم- جمع- دَ فوه جمع- (۱)بې بنیاده خبرې- (۲)انګروزه- انګازه- (۳)واهی- بازاری خبرې- ګپ- جمع افواګانې-

افوه:(اُف-فو)کلمه تعجب- دَ حسرت، تعجب، دَ درد غم او پرېشانی پۀ وخت له خلې وتونکې کلمه-

افهام:(اف-هام)اسم- پوهونه- (م- عربی)-

افیم:(اَ-فیم)اسم- واحد/جمع- مذکر- تریاق- اپیم- افیون- دَ خشخاشو دَ پوږې دَ پېیو نه حاصلېدونکی نشه آور مواد-

افیمی:(اَ-فی-مي)اسم صفت- واحد- مذکر- افیم خور- پۀ افیمو عادت سړے-

اقا:(آ-قا)اسم- واحد- مذکر- اغا- مالک- جمع اقایان/اقاګان- (ش- فارسی)-

اقارب:(اَ-قا-رب)اسم- جمع- مذکر- خپلوان نسګیران- رشته داران- (م- عربی)-

اقامت:(اِ-قا-مت)اسم- واحد- مذکر- استوګه- ټیکاؤ- قیام- مسکن- (۲)دَ اختر او جنازې دَ نمانځۀ نه بغیر تکبیرونه- (م- عربی)-

اقامه:(اِ-قا-مه)اسم- واحد- مؤنث- اقامت- تکبیر- (م- عربی)-

زبر"(خ-مـفـ-وه)، زورکے"(شل)، "پېښ"(نو-کـا-رو)، "زېر"(کـ-تـاب)، "جزم"(شکون)، "ة"(ز-ړه)، ة (پو-مې-دۀ)

اتاو:(ا-تـاو)اسم- واحد- مذکر- په زمکه د سېلاب یا باران ډېري اُبه- (م- ترکي، فارسي)-

اقبال:(اق-بال)اسم- (١)خوش نصیبي- بڼه بخره- ښه برخه- (٢)اعتراف-

اقبال مند:(اق-بال-مند)اسم- اقبال لرونکے-

اقبال مندي:(اق-بال-من-دي)اسم- اقبال لرنه-

اقبالي:(اق-با-لي)اسم صفت- اقبال سره متعلق- د جُرم یا ګناه اعتراف کونکے-

اقتباس:(اق-ت-باس)اسم- (١)انتخاب- (٢)رنا اخیستنه- (٣)له چا د نظم یا نثر عبارت نقل کونه- (م- عربي)-

اقتدار:(اق-ت-دار)اسم- وس- واک- لاس- قدرت- اختیار- طاقت- (٢)حکومت- (م- عربي)-

اقتدا:(اق-ت-دا)اسم- وروستو تلـه- مطابعت کونه- مقتدي کېدنه- (م- عربي)-

اقتصاد:(اق-ت-صاد)اسم- واحد- مذکر- سپما- ږېه- میانه روي- (م- عربي)-

اقتصادي:(اق-ت-صا-دي)اسم صفت- د اقتصاد سره متعلق-

اقتصادیات:(اق-ت-صا-دي-یات)اسم- جمع- هغه علم چې په هغې کښې د ملک د مادي پېداوار او د هغې د مناسب خرڅ په باب کښې تعلیم ورکولے شي- علم معاشیات-

اقدار:(اَق-دار)اسم- جمع-مذکر- د قدر جمع- (١)اندازې- معیارونه- (٢)قیمتونه- (م- عربي)-

اقدام:(اق-دام)اسم- وړاندې تلـه- پښه ایښودنه- (٢)پېل- (٣)ارتکاب- (۴)دلېري- (۵)اراده- قصد- (۶)شروع- جمع اقدامونه- (م- عربي)-

اقدس:(اق-دس)اسم تفضیل صفت- ډېر پاک- نهایت پاک- (م- عربي)-

اقرار:(اق-رار)اسم- (١)ونېښه- منښه- په ژبه ونښنه- (٢)وعده- شرط- (م- عربي)-

اقرار نامه:(اق-رار-نا-مه)اسم- هغه کاغذ چې پرې معاهده لیکلے شوې وي- (قانون)-

اقرارول:(اق-را-ر-ول)مصدر متعدي- په چا اقبال کول- ګوګ قایلول-

اقرارولے:(اق-را-ر-وځلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اقرارولي- مؤنث اقرارولې- وګورئ اقرارول-

اقرارون:(اق-را-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ اقرارول-

اقرارونګ:(اق-را-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ اقرارول-

اقراروَنه:(اق-را-ر-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ اقرارول-

اقراروَه:(اق-را-ر-وَه)حاصل مصدر- وګورئ اقرارول-

اقرارونکے:(اق-را-ر-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اقرارونکي- مؤنث اقرارونکې- وګورئ اقرارول-

اقراري:(اق-را-ري)اسم صفت- اقبالي- اقرار کونکے-

اقرارېدل:(اق-را-ري-دل)مصدر لازم- قایلېدل- اعتراف کول- منل-

اقرارېدلے:(اق-را-ري-دځلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اقرارېدلي- مؤنث اقرارېدلې- وګورئ اقرارېدل-

اقرارېدن:(اق-را-ري-دن)حاصل مصدر- وګورئ اقرارېدل-

اقرارېدنګ:(اق-را-ري-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ اقرارېدل-

اقرارېدنه:(اق-را-ري-دنه)حاصل مصدر- وګورئ اقرارېدل-

اقرارېدونکے:(اق-را-ري-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اقرارېدونکي- مؤنث اقرارېدونکې- وګورئ اقرارېدل-

اقرارېده:(اق-را-ري-ده)حاصل مصدر- وګورئ اقرارېدل-

اقرب:(اق-رب)اسم- جمع- مذکر- (١)خپل- خپل مېن- (٢- صفت)خوار- عاجز- (م- عربي)-

اقربا:(اق-ر-با)اسم- جمع- مذکر- خپلوان- رشته دار- (م- عربي)-

اقساط:(اق-ساط)اسم- جمع- مذکر- د قسط جمع- ټکړې- حصې- کشتونه-

اقسام:(اق-سام)اسم- جمع- مذکر- د قسم جمع- قسمونه-

اقصیٰ:(اق-صا)اسم تفضیل صفت- ډېر لرې- (م- عربي)-

اقل:(اق-ل)اسم تفضیل صفت- لږ- ډېر لږ- (م- عربي)-

اقلاً:(اَق-لن)متعلق فعل- د اقل سره منسوب- په لږ ډول- (م- عربي)-

اقلیت:(اق-لي-یت)اسم- کمے- لږ والے- (م- عربي)-

اقلیدس:(اُق-لي-دس)اسم- د جیومېټري علم- د ریاضي هغه هندسه چې د خپل موجد په نوم مشهوره ده- (م- اقلي- یوناني- کُنجي- دس- ور- هندسه)-

اقلیم:(اق-لیم)اسم- جمع- مذکر- ملک- ولایت- د زمکې پینځو حصو کښې هر یو ته اقلیم وائي- جمع الجمع اقالیم- (م- عربي)-

اقنوم:(اَق-نوم)اسم- د هر څیز اصل- بنیاد-

اقوال:(اَق-وال)اسم- جمع- مذکر- د قول جمع- خبرې- مقولې- نصیحتونه- (م- عربي)-

اقوام:(اَق-وام)اسم- جمع- مذکر- د قوم جمع- قامونه- فرقې- ګروهونه-

اک:(اَک)اسم- واحد- مذکر- (١)آزارېن- آفت- مصیبت- (٢)عیب- نقص- (م- فارسي)- د سپلمې ونه- (هندي)-

اکا:(اَ-کا)اسم- واحد- مذکر- (١)تره یا مشر ورور ته د عزت او احترام کلمه-

اکابر:(اَ-کا-بر)اسم- جمع- مذکر- غټان- مشران- د اکبر جمع- (م- عربي)-

اکابکا:(اَ-کا-ب-کا)اسم- واحد- مذکر-حیرانتیا- چیندخ- کابلے چیندخ- ورباء- ډډو-

اکار:(آ-کار)اسم- کړه وړه- اوند غوند-شکل و صورت- وګورئ آکو-

اکار:(ا-کار)اسم- واحد- مذکر- دهقان- بزګر- کسان-

اکاږ:(ا-کاږ)اسم صفت- (١)ظالم- دښمن- بې رحمه- (٢)وچ- خشکي- تریخ سړے- (٣)وګورئ اکار-

ګ (ګـی-رل)، ږ (ږمي-ږه-ږول)، ښ (ښـا-لي)، ڼ (ټن-ډ-مي) تفصیل د پاره وګورئ تسرمخاب صفحه ١

www.pukhto.net

اکاړه:(اَ-کا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- د پهلوانانو دُ کُشتی دُ پاره ځایٔ- دُ کبډی میدان- دُ سپو جنګولو ځایٔ- د پرخونو ځایٔ- (م- هندی)-

اکاړی:(اَ-کا-ړی)اسم- واحد- مؤنث- دهقانی- بزګری- زمیداری-

اکاړی:(اَ-کا-ړی)اسم- (۱)ظلم- بې رحمی- دښمنی- (۲)وُچ توب- خوشکه- تریخ والے-

اکاړی توب:(ا-کا-ړی-توب)اسم- سختی- اړی- اړی ماری-

اکاله:(ا-کا-له)اسم- دُ زمکې یو خل قلبه کونه- (م- اک- یو- هل- قلبه- غالبا)-

اکب:(اَ-کَب)اسم صفت- مذکر- (۱)قدرت- زور- طاقت- (۲)لوئی- بزرګی- عظمت-

اکبار:(اک-بار)اسم- واحد- مذکر- یو تروې دانې لرُونکے موټے او دُ هغې دانې چې حوړولے کیږی-

اکبر:(اک-بر)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ډېر لوئې- (۲)دُ مغل بادشاه جلال الدین لقب- (م- عربی)-

اکبری:(اک-بر-ری)اسم- اکبر سره متعلق-

اکبری سُونت:(اک-بر-ری-سُو-نت)اسم- وګورئ پیغمبری سُونت-

اکبری:(اک-بَ-ری)اسم- جمع- مؤنث- (۱)خلوبې- مشهور خواږه- (۲)دُ اکبر بادشاه اشرفی- مُهر-

اک بک:(اک-بک)اسم صفت- حیران- اک بک- (م- هندی هکابکا)-

اک بک:(اک-بک)اسم صفت- اک دک- هک دک- حیران و پریشان- (م- وګورئ اک بک)-

اکتساب:(اک-تِ-ساب)اسم- زده کونه- کسب کونه- ګټنه- لاس ته راوړنه- خواری کونه- (م- عربی)-

اکتسابی:(اک-تِ-سا-بی)صفت- ګټلے شوے- زده کړے شوے-

اکتفا (اک-تِ-فا)اسم- کافی کېدنه- بَس- بسنه- بس والے- کافی- (م- عربی)-

اکتوبر:(اک-تو-بَر)اسم- واحد- مذکر- د انګریزی کال لسمه میاشت چې همیشه دُ یودېرشو ورځو وی- (م- انګریزی)-

اکثر:(اک-ثر)اسم تفضیل/صفت- زښت ډېر-

اکثریت:(اک-ثَ-ری-یَت)اسم- د اکثر سره متعلق- دُ شمېر په لحاظ زیاتوالے- ګڼ والے- (م- عربی)-

اکر:(اَ-کَر)اسم- (۱)شکل شباهت (اکر بکر یو ځایٔ راځی)- (۲)سرګرځی- سرګرځېدنه-

اکرابه:(اک-را-به)اسم صفت- واحد- مؤنث- سپېره- کمینه، فضول او بې فائدې ښځه- ټینکه- نامبارکه پواړه- سپېرغتې-

اکرام:(اک-رام)اسم- واحد- مذکر- (۱)انعام- (۲)عزت ورکونه- (۳)مېلمستیا ورکونه- (۴)احترام- (م- عربی)-

اکراه:(اک-راه)اسم- (۱)نفرت- کرکه- ناخوښی- (۲)جبر- زور- (م- عربی)-

اکروب:(اکروب)اسم صفت- بې وسه- عاجز- کریابه- بې کس- مجبور- مؤنث اکربه- (م- عربی اکرب- ډېر کرب کښې)-

اکربتیا:(اکر-بِ-تیا)اسم- واحد- مؤنث- بې وسی- عاجزی- لاچاری- مسکینی-

اکربکر:(اَکَر-بَ-کَر)اسم- شکل شباهت- کړهٔ وړهٔ- دُ مخ کاسه- خدوخال- وګورئ اکر-

اکربه:(اکر-به)اسم- واحد- مؤنث- (۱)اکرابه- (۲)دُ اکرب مؤنث- (۳)دُ خاوند د پاره سپېره ښځه- (ش- عقرب- لړم- عربی)-

اکرکره:(اَ-کَر-کَره)اسم- واحد- مؤنث- دُ تور رنګ او تېز بوئ لرونکے دُ یو بوټی بیخ چې مزاج یٔ ګرم او خُشک وی او په یونانی دارُو کښې بکاریږی- اوګکرے- (م- عاقرقرحا)- نباتاتی نُوم دُ اناسائیکلس پیریتروم یو قسم-

اکرم:(اک-رَم)اسم تفضیل/صفت- ډېر سخی- (م- عربی)-

اکرمه ګټه:(اک-رمه-ګټه)اسم- وزیره ګټه- دُ مینځنی ګټې او کچنی ګټې تر مینځه ګټه-

اکر ورانیدل:(اَکر-ورا-نې-دَل)مصدر- غصه راتلل-

اکره:(آ-کَره)اسم- واحد- مؤنث- سپینه بزه- جمع اکرې-

اکره:(اک-ره)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)شنډه- (۲)وچه- (ښځه، بزه، غوا)-

اکره:(اک-ره)اسم- واحد- مؤنث- هغه ځایٔ چې دُ اُور لمبې ترې خیژی-

اکره:(اک-ره)اسم صفت- واحد- مؤنث- ډېر ګرم-

اکره:(اک-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)اثار قدیمه- (۲)مقام-

اکړې:(اک-ړې)اسم- دُ ښار کنډرې- کنډوالې- کنډرلې- خرکنې- خرابه- ویرانی-

اکړ:(ا-کړ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)نا اُمیده- مایوس- (۲)شنډ- بې حاصل- بې اولاده- یوازې- مؤنث اکړه- جمع/مؤنث اکړې-

اکړې بکړې:(اک-ړې-بک-ړې)اسم- جمع- مؤنث- دُ ماشومانو یو قسم دانې- لاکړه کاکړه-

اکړې پاکړې:(اک-ړې-پاک-ړې)اسم- دُ جوارو کنجے ورے- کنجے بنجے-

اکسیجن:(اک-سی-جن)اسم- واحد- مذکر- بې رنګه، بې خونده او بې بویه هغه ګېس چې دُ ژوند دُ پاره ضروری دے او یو خاصیت یٔ دا هم دے چې دُ اُور بلولو کښې مدد کوی- (م- انګریزی)-

اکسیر:(اک-سیر)اسم- واحد- مذکر- (۱)کیمیا- هغه دارو چې دُ یو مرض حکیمی علاج وی- (م- عربی)- (۲)عرق-

اکسیلېټر:(اک-سی-لے-ټر)اسم- واحد- مذکر- دُ موټرونو بسونو وغیره یو پرزه چې هغې سره په پښه دُ زور ورکولو په نتیجه کښې رفتار تیزیږی- (م- انګریزی)-

اکش بکش:(اَکَش-بَ-کش)اسم- (۱)دُ جنګ دُ پاره دُ خلقو نه دُ ځان خلاصولو کوشش- (۲)دُ څو کسو تر مینځه سُوړ ګېږه-

www.pukhto.net

اککر:(أ-کَ-کَـره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ اکرکره-

اکل:(ا-کِل)اسم فاعل- واحد- مذکر- (۱)خوړونکے- (۲)د داسې یو قسم چې د بدن غوښې او هډوکی ته پریوځي-

اکلکره:(أ-کل-کَـره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ اکرکره-

اکله:(أ-کَ-لـه)اسم صفت- واحد- مؤنث- بخیله ښځه- سپیره او شومه ښځه- بواړه- اکوبه-

اکمال:(اک-مال)اسم تفضیل/صفت- پوره کونه- بشپړونه-

اکمل:(اک-مَل)اسم تفضیل/صفت- ډیر بشپړ- ښه پوره- ډیر کامل- (م- عربي)-

اکناف:(اک-ناف)اسم- جمع- مذکر- د کنف جمع- څنډې- غاړې- طرفونه- (م- عربي)-

اکوبکو:(اک-کو-بک-کو)اسم- واحد/جمع- مذکر- (۱)د یوې مرغۍ نوم- (۲)د یو لوبې نوم- (۳)وتې بوټې- (۴)بکواس-

اکوړ:(أ-کوړ)اسم- واحد- مذکر- غوز- اغز- کروټ- میټک- چرمغز-

اکوړی:(أ-کو-ړی)اسم- واحد- مؤنث- سره بوزینه- سره رنګ شوی پیره باریکه څرمن-

اکوک:(أ-کوک)اسم- جمع- مذکر- د ونې غوره میوه- د چاڼ میوه-

اکونا:(ا-کو-نا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)اکندو- (۲)پهاګ- بې ملاوټه- اپه دیو مضو کښې صفت- م- هندي)-

اکوښے:(أ-کو-ښے)اسم- واحد- مذکر- د څاروی بچے- د خساور بچے- سکوړے- سخے- سخوښے-

اکه پکه:(أ-کـه-پ-کـه)اسم صفت- وګورئ اک پک-

اکین:(ا-کین)اسم- وګورئ یکین-

اکینے:(أ-کی-نے)اسم- واحد- مذکر- (۱)د مشک هغه تسمه چې د اُبو راوړو په وخت ئې سرته اچوي- (۲)د جولاګانو لینډی چې تنسته کښې ئې پکاروي-

اکی:(أ-کی)اسم- واحد- مؤنث- مشرې خور ته د خطاب کلمه-

اکے:(ا-کے)اسم- واحد- مذکر-په چیندرو کښې رورمبے ګور-

اګ:(اګ)اسم- واحد- مذکر- پوګ-

اګا:(أ-ګا)اسم- واحد- مذکر- د اغا د کلمې یو شکل چې ماشومان ئې پلار ته واني-

اګابګا:(أ-ګا-ب-ګا)اسم- واحد- مذکر- د ملکانو د یوې لوبې نوم- اکوبکو-

اګاړ:(أ-ګاړ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ اګار-

اګاړی:(أ-ګا-ړی)اسم- واحد- مذکر- هغه بیاسته چې آس یا بل کوم څناور پرې له ورومبی پښې نه تړلے شي- د پچواړی ضد-

اګاو:(أ-ګا-وو)متعلق فعل- وړاندې- مخکښې- وړومبے- اګاهو- (ش- هندي)-

اګاونے:(أ-ګا-وو-نے)صفت- د اګاو سره متعلق-

اګاه:(أ-ګاه)اسم صفت- خبر- واقف- پوه- خبردار- (م- فارسي)-

اګاهو:(أ-ګا-هو)متعلق فعل- وګورئ اګاو-

اګاهي:(أ-ګا-هي)اسم- واحد- مؤنث- اګاهي- واقفیت- خبرداري- هوښیاري- وګورئ اګاهي- (ش- فارسي)-

اګاهي:(أ-ګا-هي)اسم- خبرداري- واقفیا- پوهه- د یوې واقعې په حقله له مخکښې نه په مافوق الفطرت طریقه خبریدنه-

اګاهي ورکول:(ا-ګا-هي-ور-ک-ول)مصدر متعدي- خبرول- (م- اګاه فارسي)-

اګاهي ورکیدل:(ا-ګا-هي-ور-کې-دل)مصدر لازم- خبریدل- پوهیدل- واقفیدل-

اګبوټ:(اګ-بوټ)اسم- واحد- مذکر- انګبوټ- انګوټ- د اُبو ورو کے جهاز- (م- انګریزي)-

اګدر:(اګ-دَر)اسم- واحد- مذکر- اژدر- اجګر- اژدها- ډیر زهرژن مار- (ش- فارسي اژدر)-

اګدور:(اګ-دور)اسم صفت- بې پروا- (م- هندي)-

اګر:(ا-ګر)اسم- واحد- مذکر- د انساني بدن د شا هغه حصه چې بهر ته را وتې وي- کُناټې-

اګر:(أ-ګر)حرف شرط- کهٔ- کهٔ چرې- (ش- فارسي)-

اګر:(ا-ګر)اسم- (۱)یو بوټے او د هغې لرګے چې په سوزیدو خوشبوئي ورکوي- نباتاتي نوم ایمانرس ایکالوچا- (۲- صفت)قیمتي او نایاب څیز- اسحروت-

اګر:(ا-ګر)اسم- واحد- مذکر- خشاوزه- خساوره- سخارژه- خساموره- یو دارو چې د تس د درد د پاره خوړلے شي- نباتاتي نوم- اکورس کیلامس او پورے تس-

اګر:(أ-ګر)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)مرئے- غلام- بنده- (۲)رذیل- کمینه- مؤنث اګره- جمع مؤنث اګرانې-

اګراني:(اګـرا-ني)اسم- د قرض سودا د ورکولو نه پس د هغې د قیمت راغنډولو کار- (م- اګاهي هندي)-

اګربتي:(أګر-ب-تي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- یو خوشبودار ډکے چې د خوشبو د پاره سوزلے شي- اګر-

اګربګر:(أګر-ب-ګر)اسم- شور ځوب-

اګرنیا:(أ-ګر-ن-یا)اسم- (۱)شنډتوب- شنډتیا- (۲)د ښځې یا ونې د نه ماردارېدو حالت-

اګرچه:(اګر-چهٔ)حرف- هرڅوکه- سره ددې چې- اګرکهٔ-

اګره:(اګـ-ره)اسم- واحد- مؤنث- د وریژو، مستو یا شلو بې مزې پخګړے- (م- هندي)-

اګره:(اګره)اسم- وګورئ ګره-

اګرمیکره:(اګره)(ایکره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ اګره-

اګری نګری:(اګری-نګری)صفت- اړے ګړے- غوبل- هغه حالات چې د قانون احترام پکښې نه وي- (م- انې نګری پنجابي- رونډ وطن)-

اګرم بګرم:(اګ-رم-بګ-رم)اسم صفت- (۱)بیکاره، خشې عبث خبرې- (۲)ګډ وډ- (۳)عبث- بې کاره څیزونه- (م- هندي)-

www.pukhto.net

اکست:(أ-کُسْتْ)اسم- واحد- مذکر- د عیسوی کال اتمه میاشت-

اکل:(ا-کل)اسم- واحد- مذکر- (۱)احاورګاړے- هغه ځای چې کُلالان تری نه خاوره اوړی- (۲)برتن- (۳)ګسر-

اکن:(ا-کن)اسم- واحد- مذکر- یوه وړوکې ځوبخنه مرغۍ چې خوش آوازه وی- ځیروا- سپېرکوبډکه- سپېرکوټه- جل- خراړه- سپېرکنده- خراکه- (۲)بروا- جرعنده- کزلاخ- جمع اکونه-

اکن:(ا-کن)اسم صفت- واحد- مذکر- بې عقله- کم عقله- نادان- لواړ- احمق-

اکن بوټ:(أ-کن-بوټ)اسم- واحد- مذکر- انکوټ- د اُبو جهاز- وګوری اکبوټ-

اکو:(ا-کو)اسم- واحد- مؤنث- پیبو- پېو- ترور- ملسې- د پلار یا د مور خور-

اکواړی:(اګ-وا-ړی)اسم- واحد جمع- مؤنث- دَ اُمی یا مل کوم خاوری یا خماور دَ منځکښي پښې ترلو دَ پاره مړے یا پړے- اګاړی- (عندی)-

اکوړی:(ا-کو-ړی)اسم- واحد جمع- مؤنث- اګاړی- وګوری اکواړی-

اکه:(ا-که)اسم صفت- خبردار- واقف- وګوری اګاه-(م- فارسی)-

اکه:(ا-که)اسم- زار- خل- جمع اکې-

اکیربکیر:(أ-کیر-ب-کیر)اسم صفت- (۱)اوتر حیراز دریان- حق حیران- مایوسه- بې درکه- (۲)پېر زیات محوه-

اکیج:(ا-کیج)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه نوکر چې دَ ورځې جا سره کار کوی او دَ شپې خپل کور ته ځی-

اکېر:(ا-کېر)اسم- واحد- مذکر- (۱)اوږ- (۲)سرو تکې-

اکېړے:(ا-کي-ړے)اسم- واحد- مذکر- د شملو د مشک د خلی د تړلو مزے یا پړے-

اکېیل:(ا-کې-یل)مصدر- په چا پوری ملنډې کول- توقې کول- (۲)د پوری خله تړل-

اکېیلے:(ا-کې-یلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اکېیلی- مؤنث اکېیلې- وګوری اکېیل-

اکېین:(ا-کې-ین)حاصل مصدر- وګوری اکېیل

اکېینګ:(ا-کې-ینګ)حاصل مصدر- وګوری اکېیل

اکېینه:(ا-کې-ینه)حاصل مصدر- وګوری اکېیل

اکېیونکے:(ا-کې-یون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اکېیونکی- مؤنث اکېیونکې- وګوری اکېیل

اکېنه:(ا-کې-نه)حاصل مصدر- وګوری اکېیل

اکی:(ا-کی)اسم- واحد جمع- مؤنث- ما- اریه- هویه- هکی- انکی- (م- د ما اسم تصغیر)-

ال:(آل)اسم- واحد جمع- مذکر- (۱)زوی لور- اولاد- تبر- خاندان- (م- عربی)-

ال:(آل)اسم- (۱)زوزاد- زمزاد- (۲)دَ چیریانو اُبه- (۳)سور رنګ- (م- ترکی)-

ال:(آل)اسم- پیرے- باګو- بکلولی- روے- (م- عربی)-

الا:(أ-لا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)په جمع سره دَ الله نوم اخستنه (الا الا کول)- (۲)دَ خوشحالی په موقع یوه نعره (الا وکښل)- (۳)تېزه منډه- زغاستنه- په یو سا تلنه- (۴)حمله (الا کول)-

الا الا:(ا-لا-أ-لا)اسم صفت- مذکر- (۱)تالاترغه- چور ماچور- (۲)ناری سوری- چغې- دَ خوشحالی او دَ جوش ناری- د پولی یا دَ اشر په وخت کښې د جوش زیاتولو ناری- (۳)کته نیونه- پړه- (۴)د سهکاوی چغې-

الابلا:(ا-لا-ب-لا)اسم- (۱)بېکاره او بې ښې ځیزونه- ګډګاړه ځیزونه- (۲)درد- کړاو- مصیبت- (۳)ماری داړي- ورانې ویجاړې- روا ناروا-

الات:(آ-لات)اسم- جمع- مذکر- د الت جمع- هغو کالو او سامان ته ویلے شی چې د ځنو کارونو په کولو کښې استعمالیږی- مشینونه- (م- عربی)-

الاج:(ا-لاج)اسم صفت- واحد- مذکر- دَ مالوچو وهونکے- پانوټی- نداف- حلاج- (م- حلاج عربی)-

الاچی:(ا-لا-چی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)هغه اله چې پوندانه پرې لهٔ مالوچو نه بیلولے شی- (۲)د کتو د کانې دَ اُسپنې مشینی حصه چې په یو فریم دربو لوښیرو او دَ میخ په تیر مشتمله وی- (۳)دَ اینکر یوه کونکته-

الاچیک:(الاچی-کک)اسم- واحد- مذکر- د یو شکلی مارغهٔ نوم- کنجره-

الاچه:(ا-لاچه)اسم- واحد- مذکر- یو قسم کرښې کرښې ښې ښې ریښمینه کپړه- (عندی)-

الاچی:(اَ-لا-چی)اسم- جمع- مذکر- وګوری لاچی-

الاداد:(ا-لا-داد)اسم- واحد- مذکر- یوه لوبه چې ملکان پکښې یو بل نه پټیږی- زغلی او پټومه سره ورکوی- الی شړنګ پېلی- الی پېلی- تپ تپانې- تپ تپانے-

الاوړ:(ا-لا-وړ)اسم- واحد- مذکر- دَ ترکاڼانو یو قسم برمه چې لهٔ الاوړنے څخه لوه وړه وی-

الاوربه:(ا-لا-وربه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)غله ګوله- اړے ګړے- منګامه- درز دروز- الغالو تلغالو- (۲)پړه ورځ- غاو غړو-

الاوړنے:(ا-لا-وړ-نے)اسم- واحد- مذکر- د ترکاڼانو لویه برمه-

الاپیر:(ا-لا-پیر)اسم صفت- پېر زیات- مړ میړی- بې حده زیات-

ال ارغه:(ال-ار-غه)اسم- واحد- مذکر- یو دَ وړو ټېو خړ رنګے مارغهٔ-

الارم:(ا-لا-رم)اسم- واحد- مذکر- تلی- د تیانم پیس تلی- (م- انګریزی- الارم)-

الاستی:(ا-لاس-تي)اسم صفت- (۱)عاتبه پټ- (۲)ناګهانه- ناڅاپی- سمدستی-

الاشه:(ا-لاشه)اسم- واحد- مؤنث- جامه- خامه- برغښے- کرغښے- کنجلے- جمع الاشې-

www pukhto.net

الاغ:(اَ-لاغْ)اسم صفت- (۱)لکرکے- مردار هوپے- خر- (۲)خرپے- قاصد- (۳)ولو- باردار- (۴)خره- (م- ترکي)-

الاک ډلاک:(ا-لاک-ډ-لاک)صفت- حیران دریان- هک بک- مایوسه- هک دک-

الاکلنګ:(ا-لا-ک-لنګ)اسم- واحد- مذکر- شاد بنهوک- غنځالے رنګ- د ماشومانو یوه لوبه-

الال:(اَ-لال)اسم صفت- و ګوری حلال-

الالول:(اَ-لا-ل-وُل)مصدر متعدي- وګوری حلالول-

الالونے:(اَ-لا-ل-وو-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری حلالونے-

الالیدل:(اَ-لا-لي-دَل)مصدر لازم- وګوری حلالیدل-

الام:(آ-لام)اسم- جمع- مذکر- (۱)دَ الم جمع- تکلیفونه- غمونه- پریشانی- مصیبتونه- (۲)عام طور سره دَ کلام نه مخکښې دَ "الام کلام" په شکل استعمالیږی-

الام کلام:(اَ-لام-کَ-لام)اسم- مذکر- خبرې اترې- ګپ شپ- پیغام- خراب (مرکّب)-

الاورتې (ا-لا-ور-تې)اسم- جمع- مؤنث- سي ماندي ومنا- اکرنکو- جیبیان (افغانستان)-

الاوې وهل:(اَ-لا-وې-وَ-هَل)اصطلاح- په یو مخ منډې وهل- په منډه خطیدل-

الهٔ:(ا-لاه)اسم- واحد- مذکر- د قوت خاوند- معبود-

الهو:(اَ-لا-هو)کلمه- ماشوم ته دَ اودهٔ کولو دَ پاره سندره- (الله هو وئیل کول مصدرونه)-

الهي:(ا-لا-هي)(۱)الله ته دَ ندا کلمه- اے زما خدایه- (۲)الله سره منسوب-

الهیات:(ا-لا-هي-یات)اسم- دَ خدایْ پاک په باره کښې علم او فلسفه-

البت:(اَل-بَت)حرف- وګوری البته-

البته:(اَل-بَ-تَه)حرف- (۱)ضرور- بې شکه- (۲)مګر- لیکن- وپر ښه- (۳)و- (عربي)-

البشاکه:(اَل-بَ-شا-که)اسم- واحد- مؤنث- نمونه- نښه- معمولي- اثر- جمع البشاکي-

البلے:(اَل-بَ-لے)اسم فاعل/صفت- واحد- مذکر- زاری کوونکے- عاجزی کوونکے- خاکسار- الون بلون کوونکے- جمع البلي-

البند:(اَل-بَند)اسم- واحد- مذکر- دَ اَړی دَ موسم ورشو- جمع البندونه-

البنګ:(اَل-بَنګ)اسم صفت- واحد- مذکر- ګونګے- خاموش- چُپ چاپ- جمع البنګیان- واحد مؤنث البنګه- جمع مونث البنګي-

البیس:(اَل-بیس)اسم- واحد- مذکر- چُن- بګے- خبره- ژغ- غږ- ګفت- وش- کش- جمع البیسونه-

البته:(اَل-بَ-تَه)اسم صفت- تلولي- وارخطا- پریشان- متلون- اوتزکونړ- تنګ تربت-

الپی الا:(اَل-پی-ا-لا)اسم صفت- ډېر خوار- خوار پوک- نیستمن- بې وسه- د پولی تک نه ناست- بې شتو- (م- الف- الله)-

الت:(اَلت)اسم- واحد- مذکر- (۱)اوزار- وسله- کالے- (۲)دَ نر دَ نرتوب بهرنے اندام- ذکر- جمع آلات- دوېمه معنی کښې التونه- (عربي)-

التباس:(اِل-تِ-باس)اسم- د یو شان والي له کبله په شک کښې پرېوتنه- (م- عربي)-

التجا:(اِل-تِ-جا)اسم- منت- زاری- خواست-

التزام:(اِل-تِ-زام)اسم- (۱)په غاړه اخستنه- (۲)په ځان لازمونه- (۳)دَ څهٔ کار دَ کولو یا نهٔ کولو وعده- (م- عربي)-

التفات:(اِل-تِ-فات)اسم- پام- توجّه- مهرباني- رغبت- (م- عربي)-

التماس:(اِل-تِ-ماس)اسم- غستنه- خواست- (م- عربي)-

التوا:(اِل-تِ-وا)اسم- غستنه- ځنډونه- بلې موقعې ته پرېښودنه- ملتوی کونه- (عربي)-

الټه:(اُل-ټه)اسم صفت- (۱)اړونه- پرمخې- په بل مخ- اړولے- برخلاف- په ترږ- په ځټ- کږن- کینه- کس- دَ ښي ضد- دَ نفع ضد-

الټي:(اُل-ټي)اسم- واحد جمع- مؤنث- قے- کوزکنه په- ستنه کونه- لهٔ مخه کونه- ګردان- غرځونه- بکی- باکی- چال باسل- ګرځون- چال- باقی- جمع الټیانې-

الجوغ:(اِل-جوغ)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ولهٔ- خروله- دَ سبلکس دَ نباتاتی کروپ هر یو بوټے- (۲)تاړیدنه- نیښتیدنه- شاید دَ ولې دَ خاصیت په وجه- (م- ترکي- الجوق- الجخت)- الجوق- نباتاتی نوم سپلیکس ټیټرا سپرما (SALIX TETRASPERMA)-

الجه:(اُل-جه)اسم- واحد- مؤنث- وګوری الاجه- جمع الجي-

الخبک:(اَل-خَ-بک)اسم صفت- ځبک- ورغ- نری او لوه واوره چې دَ ژمکې په مخ پرته وی-

الخي:(اَل-خي)اسم صفت- سخت- ناراسته- لټ- نارامه- بېځنځه-

الحاد:(اِل-حاد)اسم- کږېدنه- دمړیه کېدنه- ملحد کېدنه- لهٔ دینه اوړېدنه- (م- عربي)-

الحاق:(اِل-حاق)اسم- جختیدنه- شاملیدنه- شریکیدنه- (م- عربي)-

الحاقول:(اِل-حا-قَ-وُل)مصدر متعدي- پیوست کول- شاملول- شریکول- جختول- (م- عربي)-

الحاقولے:(اِل-حا-قَ-وُ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع الحاقولي- مؤنث الحاقولې- وګوری الحاقول-

الحاقون:(اِل-حا-قَ-ون)حاصل مصدر- وګوری الحاقول-

الحاقونګ:(اِل-حا-قَ-ونګ)حاصل مصدر- وګوری الحاقول-

الحاقونه:(اِل-حا-قَ-ونَه)حاصل مصدر- وګوری الحاقول-

الحاقونکے:(اِل-حا-قَ-وو-نکے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع الحاقونکي- مؤنث الحاقونکې- وګوری الحاقول-

الحاقوهٔ:(اِل-حا-قَ-وهٔ)حاصل مصدر- وګوری الحاقول-

الحاقي:(اِل-حا-قي)اسم صفت- د الحاق سره متعلق- لهٔ خانه جوړه شوی-

ی" (ئی-ږل)، ی"(ضي-وه-ول)، ی"(یما-لی)، یې"(تن-دیې) تفصیل د پاره وګوری تشریحات صفحه ۱

لهٔ خانه پیوست شوي۔

الحاتیه:(ال-حا-تي-یه)اسم- پیوستون۔

الحمد:(اَل-حَم-دُ)اسم- سُورة فاتحه- دُ قرآن شریف ورومبے سُورة- (م- الحمدُ لله- ټولې ستاينې دُ الله دُ پاره)۔

الخ:(اَلخ)مخفف- دُ الٰی اخره مخفف- یعني دُدې تر آخر پورې- دا توری د یوې جملې د یو څو لفظونو نه پس لیکلے شي او مطلب يې دا وی چې دغه جمله دې تر آخره ولستے شي۔

الدُنګ:(ال-دُنګ)صفت- بې غیرته- بې ننګ- بې توبې۔

ال دوال:(اَل-دو-آل)متعلق فعل- دوالہ- دوه آلہ- زمکه پهٔ دویم ځل اړونه۔

ال رسول:(آَل-رسول)اسم- د رسول کریم صلی الله علیه وسلم اولاد- سیدان- (م- عربی، فارسی)۔

الزام:(ال-زام)اسم- واحد- مذکر- (۱)تهمت لګونه- تور لګونه- (۲)ملامتیا- پړه۔

الست:(اَلَست)اسم- دُ میثاق دُ ورځې وعده "اَلستُ بِربکم" آیا زهٔ ستاسو رب نه یم۔

المتي:(المس-تی)اسم صفت- (۱)عاشمانه- قدرتی- (۲)ناشاپې- بې طمعې- ناګهانه۔

السلام علیکم:(اس-سه-لامو-عَلي-کم)جمله- پهٔ تاسو دې سلامتیا وی- دُ عربي ژبې دُ سلام کلمه۔

السي:(اَل-سي)اسم- واحد- مؤنث- یو بوټے او دُ هغې تخم چې ډارو کښې بکاریږي- نباتاتي نوم لینم یوسی تې ټیسی مم- (م- سنسکرت، هندی)۔

الش:(اَلش)اسم- واحد- مذکر- بدل- عوض۔

الشع:(ال-شع)اسم صفت- هغه سړے چې پهٔ واضحه ډول الفاظ نهٔ شي ادا کولے۔

الشول:(ال-ش-ول)مصدر متعدی- وګورئ الیښول۔

الشېدل:(ال-شې-دل)مصدر لازم- وګورئ الیښېدل۔

الشېدلے:(ال-شې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع الشېدلي- مؤنث الشېدلې- وګورئ الیښېدل۔

الشېدن:(اَل-شې-دن)حاصل مصدر- وګورئ الیښېدل۔

الشېدنګ:(اَل-شې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ الیښېدل۔

الشېدنه:(اَل-شې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ الیښېدل۔

الشېدونکے:(اَل-شې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع الشېدونکي- مؤنث الشېدونکې- وګورئ الشېدل۔

الشېدهٔ:(ال-شې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ الیښېدل۔

الطاف:(ال-طاف)اسم- جمع- مذکر- دُ لطف جمع- مهربانۍ- (م- عربی)۔

الغاء:(ال-غاء)اسم- د بلغا او شغاز سرهٔ په ترکیبي ډول شور ما شور- شور- زوږ او ګړبړ۔

الغار:(ال-غار)اسم- واحد- مذکر- وګورئ بلغار۔

الغاسه:(ال-غا-سه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د روټۍ یو ټوک- (۲)وار خطا- زړېدلي- خفه- زهیره- (دی معنو کښې صفت)۔

الغاڼ شغاڼ:(ال-غاڼ-شل-غاڼ)اسم صفت- اړې ګړې- شور و شر- بغاوت- چغې چغارې۔

الغتان:(ال-غ-تان)اسم صفت- واحد- مذکر- ناآرامه- اړک- ضدی۔

الغرض:(ال-غ-رض)اسم- غرض دادې- (م- عربی)۔

الغو:(ال-غو)اسم صفت- بې اطمینانی- شور و شر۔

الغو تلغو:(اَل-غو-تل-غو)اسم صفت- وګورئ الغاڼ تلغاڼ۔

الغوزا:(ال-غو-زا)اسم- واحد- مؤنث- یوه غبرګه شپېلۍ چې دُ سنده دُ ارلسی موسیقۍ آله ده۔

الغوش:(ال-غوش)اسم صفت- مذکر- وګورئ ارغوش۔

الغه:(ال-غه)اسم- واحد- مؤنث- خلقه- جمع الغې- (عامیانه)۔

الغه کول:(ال-غه-کول)مصدر- څوک پهٔ چل ول ګېرول- غرض پرې کول- په تکې ګېرول۔

الغیاث:(ال-غیاث)حرف ندا- د امداد دُ پاره د راغبتلو آواز- اصلي معنٰی امداد۔

الف:(الف)اسم- د ابجدو ورومبے توری- (م- عربی)۔

الف:(ال-فاد)اسم- هغه څنډې یا پاڼې چې د دروازو کړکیو او روشندانونو وغېره د جوړونو د مضبوطولو د پاره د دیوال او لرګی تر مینځه ټک وهلے شي- (م- انګریزی- عولیفاسټ- مولو رنیسه- فاسټ کلګ)۔

الفاظ:(ال-فاظ)اسم- جمع- مذکر- دُ لفظ جمع- ټکی- توری- خبرې اترې- ګفتګو- (م- عربی)۔

الف باء:(الف-با)اسم- ټپی- حروف تهجی۔

الف بې:(اَلف-بې)اسم- (۱)حروف تهجّی- (۲)دُ هر فن ابتدا۔

الفت:(ال-فت)اسم- واحد- مذکر- مینه- دوستی- محبت- (م- عربی)۔

الفته:(الف-ته)اسم صفت- دُ الفتن مصدر نه اسم مفعول- لېونے- (لهٔ میږ- حیران- پرېشان- سکاره- بدچلنه- آواره- بدمعاش- (م- فارسی)۔

الف نامه:(الف-نا-مه)اسم- واحد- مؤنث- سی حرفی- د پښتو پهٔ حرفونو لیکلے شعر یا شعرونه چې ورومبے حرف ئې د بیتی د دغه حرف سره سم وی- (م- فارسی)۔

القاء:(ال-قا)اسم- غورځونه- اچونه- الهام- غیبی اشاره- پهٔ زړه کښې دُ خدایٔ نه حوا د بوی خبرې غورځونه- (عربی)۔

القاب:(ال-قاب)اسم- جمع- مذکر- (۱)د لقب جمع- (۲)د خط عنوان یا سر خط- (م- عربی)۔

القاری:(ال-قاري)اسم صفت- جمع- مونث- (۱)زبې- (۲)بې انتها خواهش- (۳)چچې۔

القصه:(ال-ق-صه)متعلق فعل- قصه کوتاه- غرض دا چې- (م- عربی)۔

الک:(الک)اسم- واحد- مذکر- پروبرې- پرورزې- وروکے علمل- چنورنے۔

www.pukhto.net

الک:(ا-لک)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ملک- جمع الکان-

الکاري:(اَل-کا-ري)اسم صفت- جمع- مؤنث- ناري سوري- چغې- شور زوږ- کوکاري- القاری-

الکه:(اَل-که)اسم- واحد- مؤنث- حواله- قبضه- ولکه-

الکه:(ا-لَه-که)اسم- واحد- مؤنث- د الک مؤنث- (۱)وړوکي- پېغله- (۲)سپکه-

الکيش:(اَل-کیش)اسم صوت- سپے چا پسې کونه- سپے پاره کونه- سپے اچيش کونه- سپے کښکاونه-

الکی:(اَل-کي)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)ژلی- د ماشومانو يوه بيماري- (ش- شايد حلق سره سبت لرونکي- عربي)- (۲)وګورئ القاري-

الکی:(اَل-کي)اسم- واحد جمع- مؤنث- جيبی- جونه- جينکی-

الګ:(ا-لګ)اسم- واحد- مذکر- يو قسم نرم کاڼے چې لوښي ترې جوړولے شي- شوکاڼے-

الګو:(اَل-ګو)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لګو-

الګوړے:(اَل-ګو-ړے)اسم- واحد- مذکر- اړی ګوړی- د ملکانو د يوې لوبې نوم- (ج) الګوړی-

الګونه:(اَل-ګو-نه)اسم- واحد- مؤنث- سکښته- نحچه- د لمانځ نمونه چې وړومبے لۀ کاغذ نه تيارولے شي- خاکه- ونکه-

الګه:(اَل-ګه)اسم صفت- واحد- مؤنث- ښځه- چې بچی نۀ راوړي- جمع الګي-

الله:(اَل-لاه)اسم- د خداي پاک نوم- (عربي)-

الله اکبر:(اَل-لا-هُ-اَک-بر)کلمه تکبير- (۱)الله ډير لوئ دے- (۲)د تکبير کلمه چې په لمونځ کښې وئيلے شي- (۳)د حيرانۍ او تعجب کلمه- (۴)د جنګ په ميدان کښې له ډيره جوش ايستونکي کلمه-

الله هو:(اَل-لَه-هو)جمله- هغه خداي دے- (م- عربي)-

الله جلله:(اَ-لَل-لَه-جِ-لَل-لَه)اسم- واحد- مؤنث- کوشش- بيړه- تلوار- تادی- هله ځله- الله ځله-

الله يار:(اَل-لا-ه-يار)اصطلاح- خداي دې ملګرے- په مخه دې ښه- د خداي په امان- دا کلمه په دې معنو د بلوچستان په سيمه وئيلے شي-

اللی:(ال-لی)اسم- واحد- مؤنث- ريوديدنه- سخته تيرونه- قريبلونه کونه-

اللے تللے:(ال-لے-تَل-لے)صفت متعلق فعل- سرړطے بروطے- سرګردان-

الم:(الف-لام-میم)حروف مقطعات- د قرآن شريف وړومبی سيپاره- (عربي)-

الم:(اَلَم)اسم- واحد جمع- مذکر- هنم- عوري- د يو بوټي تخم چې د دارو د پاره استعمالیږی-

الم:(الم)اسم- مذکر- غم- تول- ږنځ-

الماری:(ال-ما-ری)اسم- واحد جمع- مؤنث- د کتابونو، کپړو يا لوښو د ايښولو لوئ صندوق چې دراژونه يا خانې لري- (ش- پورتګيزي، فرانسيسي، لاطيني، هندي)-

الماس:(ال-ماس)اسم الف- واحد- مذکر- د نوکونو د پرېکولو آله- نوک پريکه- نوک تراش- نوتراش-

الماسی:(ال-ما-سی)اسم صفت- د لعل په رنګ- د الماس سره تعلق لرونکے-

المالہ:(ال-ما-له)اسم- د کروندې د پاره زمکه جوړونه- د قلبې کولو نه پس ماله کونه-

المدد:(اَل-مَ-دَد)اصطلاح- د مدد غوښتلو د پاره نارې- (م- عربي)-

المر:(اَل-مر)اسم- واحد- مذکر- نمر لمر- مېړۀ ستورګه- د زمکې او ځنې نورو سيارو د کشش مرکز او د رڼا او حرارت ذريعه-

الم سلم:(اَ-لَم-سَ-لَم)اسم- واحد- مذکر- (۱)ثابت- (۲)روغ رمټ- جمع الموه سلمونه-

الم سور:(الم-سور)اسم صفت- (۱)بې صبري- بيړه- تلوار- (۲)شور زوږ- (۳)رواتے- (۴)د ملکانو د يوې لوبې نامه-

الم سورے:(الم-سو-رے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)حرص ناک- لالچ کونکے- لالچي- حرص- زوسترګے- تيرباړ- لرواوړے- (۲)وران کارے- شيطان- شرير- شرارتي- جمع الم سوری-

الم غلم:(اَ-لَم-غَ-لَم)صفت- واحد جمع- مذکر- منافق- دوه ژبے- دوه ژبے- چلباز- چل ولي- الم غلمے- (۲)شخړه- (اسم)

الم غلمے:(الم-غلمے)اسم صفت- وګورئ الم غليزه-

الم غليزه:(اَلَم-غَ-لي-زه)اسم صفت- دوکه باز- رياکار-

الم نشرح:(اَلَم-نَش-رَح)اصطلاح- واضح- ښکاره- د قرآن سورة نشرح وړومبي الفاظ آيا مونږ پرا نۀ نستة-

المورے:(اَل-مو-رے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ارمولے-

المه:(اَل-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)زمکه- ريږه المه- فراخه زمکه- للمه- (۲)د "ملمه" د اترېدو تلفظ-

المیه:(اَل-می-یه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دردناکه واقعه- غمژنونکي واقعه- (۲)داسې نظم، نثر يا ډرامه چې انجام ئې دردناک وي- (۳)المناک- (م- عربي)-

النج:(اَ-لَنَج)اسم- واحد- مذکر- د ځنګلي الوچې ونه- نباتاتي نوم د پرونس ډوميسټيکا ايل (PRUNUS DOMESTICA L)- (م- فارسي)-

النګ:(النګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)مورچه- (۲)شنيلے- چمن- (۳)ديوال- جمع النګونه- (م- فارسي)-

النګ:(النګ)اسم- واحد- مذکر- خوا- اړخ- طرف- (م- هندي)-

النګو:(الن-ګو)اسم- واحد- مذکر- بنګړے-

النګه:(الن-ګه)اسم- واحد- مؤنث- لمبه- شعله- د اور شعله- (م- فارسي- النګه)-

النګه:(الن-ګه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ديوال- النګ- لوئ وچت- کړنګ- (۲)مورچه- منګر- ګوکی- (م- فارسي)-

الو:(الو)اسم- واحد- مذکر- مشهوره ترکاري- الو- پټاټه- جمع الوګان- نباتاتي نوم سولے نم تيوبروسم-

الوا:(ال-وا)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)حلوه- (۲)وروبنه- ويری- (۳)لوښه-

الوابوټے:(أل-وا-بُو-ټے)اسم- واحد- مذکر- دُ شکو دَ علاقې یو قسم نوے واښهٔ چې نرم ازغی لری- یو صحرائے بوټے- جمع الوابوټي- (دَ الوا او بوټي مُرکّب)-

الواد:(أل-وادْ)اسم- واحد/جمع- مذکر- اولاد- بال بچ- خامن لَونه- بچی- زوئ لور- نسل- زوزاد- پوښک- پښت- پیداوښ-

الواډ:(أل-واړْ)اسم- لرګی- چارتراش-

الواک:(أل-واک)اسم- واحد- مذکر- (۱)نظر- دید- (۲)لواړ- شوائ- الواق- هلاک-

الوان:(أل-وانْ)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ لون جمع- سور رنګ- (۲)دَ سور رنګ یوه کپړه-

الوانی:(أل-وا-نِي)اسم صفت- سور رنګ لرُونکے-

الوبالو:(أ-لو-با-لو)اسم- واحد/جمع- مذکر- یوه میوه او دَ هغې وُنه- دَ پرونس دَ خاندان یوه ونه- وګورئ ارغنج-

الوبخاره:(أ-لو-بُ-خا-ره)اسم- واحد- مؤنث- هغه تروه میوه چې دَ خوړلو نه علاوه پخکړی، وریژو کښې هم استعمالیږی- نباتاتی نوم پرونس دومیستیکا ایل PRUNUS DOMESTICA "L"- جمع الوبخارې- (ش- فارسی)-

الوبل:(أ-لو-بَل)اسم صفت- خلقېدونکے-

الوبیچ:(أ-لو-بیچ)اسم- واحد- مذکر- یو قسم کچالو-

الوت:(أل-وَت)حاصل مصدر- وګورئ الوتل-

الوتل:(أل-وَ-تَل)مصدر لازم- ررزېدل- پهٔ هوا کښې دَ وزرونو پهٔ زور ګرځېدل-

الوتلے:(أل-وَ-تَهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع الوتلی- مؤنث الوتلې- وګورئ الوتل-

الوتن:(أل-وَ-تَن)حاصل مصدر- وګورئ الوتل-

الوتنګ:(أل-وَ-تَنګ)حاصل مصدر- وګورئ الوتل-

الوتنه:(أل-وَ-تَهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ الوتل-

الوتونکے:(أل-وَ-تُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع الوتونکی- مؤنث الوتونکې- وګورئ الوتل-

الوتې:(أ-لو-تې)اسم- جمع- مؤنث- دَ سختې بیمارۍ پهٔ وجه لهٔ خلې وتونکې بې معنې خبرې-

الوچه:(أ-لو-چه)اسم- واحد- مؤنث- د منډتې او الوبخارې پهٔ شان یوه میوه او دَ هغې ونه- نباتاتی نوم پرونس ډومستیکا ایل PRUNUS DOMESTICA "L"-

الوخه:(أ-لو-خه)اسم صفت- بېټ- پهٔ بده- پهٔ کښک- یو طرفه-

الود:(أ-لودْ)اسم صفت- کاږر- سرکش- ضدی-

الود:(أ-لودْ)لاحقه- دَ ځنې اسمونو پهٔ آخر کښې پهٔ راتللو دَ هغو سره دَ لړلو معنٰی مثلاً ګناه الود- پهٔ ګناه لړلے- (م- فارسی)-

الوداع:(أل-وِ-داع)اسم- رخصت- پهٔ مخه ښه- الوداعی سلام-

الوداعی:(أل-وِ-دا-عي)اسم صفت- دَ الوداع سره متعلق- (م- عربی)-

الودګر:(أ-لود-ګر)اسم- مذکر- دَ الوچې یو قسم- دَ نباتاتی نوم دَ پاره وګورئ الوچه-

الوده:(أ-لو-ده)اسم صفت- مذکر/مؤنث- لړلے- تپلے- ګنده- پلیت- ککړ- داغ لرونکے- لګېدلے- داغی- ابتهٔ- ګناه ګار- (کول/کېدل مصدرونه)- (م- فارسی)-

الوزول:(أ-لو-زَ-وَل)مصدر متعدی- (۱)پهٔ هوا کښې ګرځول- پورته کول- (۲)پهٔ ځهٔ آتشی وسله وژل- (۳)لهٔ ځلې وُکښل- لکه ساه- خبره وغیره-

الوزولے:(أ-لو-زَ-وَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع الوزولی- مؤنث الوزولې- وګورئ الوزول-

الوزون:(أ-لو-زَ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ الوزول-

الوزونکے:(أ-لو-زَ-وُن-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع الوزونکی- مؤنث الوزونکې- وګورئ الوزول-

الوزونګ:(أ-لو-زَ-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ الوزول-

الوزونه:(أ-لو-زَ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ الوزول-

الوزونے:(أ-لو-زَ-وو-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع الوزونی- مؤنث الوزونې- وګورئ الوزول-

الوک:(أ-لوک)اسم صفت- واحد- مذکر- کچه میوه-

الوکودکو:(أ-لو-کو-دَ-کو)اسم- واحد- مذکر- غټه الوچه- نباتاتی نوم دَ پاره وګورئ الوچه-

الوکې کېراو:(أ-لو-کې-کې-راو)اسم- واحد- مذکر- د الوچې یو قسم-

الوکے:(أ-لو-کے)اسم- مذکر- کچالو- دَ نباتاتی نوم دَ پاره وګورئ کچالو-

الول:(أل-وَل)متعلق فعل- (۱)ناڅاپه- (۲)پهٔ زور سره-

الومل:(أ-لو-مل)اسم صفت- (۱)پېر پوخ- خوږین- (۲)پوست- نرم-

الون بلون:(أ-لون-بَ-لون)اسم صفت- (۱)زیاته تلوسه- بې حده خواهش- لېواله کېدنه- (۲)پرېشی- پېره سختی- (کول/کېدل- مصدرونه-)

الوول:(أ-لو-وَل)اسم صفت- وَل وَل- تاؤ را تاؤ- ګنګوټی- ګرګوټی- کارکوټی- کلکوټی- کوړکتی- غټې غټې- اړنګ دوړنګ- کړی کړی- ادل بدل- ول پهٔ ول- الوول-

الوویل:(أ-لو-ویل)اسم صفت- وګورئ الوول-

الویل:(أ-لو-یل)مصدر الېیل- (۱)الوی کول- (۲)پېره کول- (۳)وریتول لکه دَ جوارو، د غنمو، دَ وړو- (۴)تورول-

الویلے:(أ-لو-یَهٔ-لے)اسم صفت مفعول- واحد- مذکر- جمع الویلی- مؤنث الویلې- وګورئ الویل-

الوین:(أ-لو-ین)حاصل مصدر- وګورئ الویل-

الوینګ:(أ-لو-ینګ)حاصل مصدر- وګورئ الویل-

الوینه:(أ-لو-یَهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ الویل-

الویونکے:(أ-لو-یُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع الویونکی- مؤنث الویونکې- وګورئ الویل-

الوی کول:(أ-لوی-کَ-وَل)مصدر- وګورئ الویل-

الویونے:(اَ-لو-یُو-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع الویوني- مؤنث الویوني- وګوری الویل-

الویزان:(اَل-وي-زان)اسم صفت- سرګردان- اړندکړند- وار خطا- هک پک- پریشانه- ترهور-

الویښ (ال-ویښ)اسم- واحد- مذکر- د باد نری ورمه- نری جلکه-

الوے:(اَ-لَو-وے)اسم صفت- وریت- پوخ- کباب-

الوے:(اَل-وے)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم ځره مرغۍ، چي لکۍ يې ږرنده وی او آواز يې تېز وی-

الوے تلوے:(اَ-لَو-وے-تَه-لَو-وے)اسم- په بیړه- په تادی- بې صبره-

اله:(آ-له)اسم- واحد- مؤنث- وسله- اوزار- برګه- جمع الې-

اله:(آ-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مله- یرغل- حلمه- (۲)وګوری الا-

اله:(آ-له)امر- هله- شابه- ژر شه- وکړه- بیړه کړه- تلوار وکړه-

الهٔ:(اِ-لاهٔ)اسم- واحد- مذکر- معبود- خدای-

اله:(اَ-له)کلمه- د حیرت کلمه-

اله باش:(اَ-له-باش)اسم- (۱)تادی- تلوار- جلدی- (۲)شاباشے- (۳)کوشش- تلاش- زیار- (۴)خبردارے- انتباه-

اله بله:(اَ-له-بَ-له)صفت- واحد- مؤنث- فریاد- زاری- خواست- منت- التجا- جمع الې بلې-

اله بوله:(اَ-له-بو-له)اسم مرکب- واحد- مذکر/مؤنث- ساده بوده- شُوده- بوله- هغه سړے یا ښځه چي ساده وی- (د اله او بوله مُرکب)- الهٔ بولهٔ-

اله پته:(اَ-له-پَه-ته)صفت- تلوار کونکے- بیړه ماک-

اله پکه:(اَ-له-پَه-که)اسم- واحد- مؤنث- کاشکنوله- د یوی مرغۍ نامه-

اله تانے:(اَ-له-تا-نے)اسم- واحد- مؤنث- چنګو- د یوې مرغۍ نامه چي حلاله او د کونترې موړه وی- د سیندونو په غاړو او جبو کښې ګرځي-

اله ځیک:(اَ-له-ځیک)اسم- واحد- مذکر- هغه ځاې چي واوره يې ویلې شوې وی-

اله ځله:(اَ-له-ځَ-له)اسم- واحد- مؤنث- وګوری هله ځله-

اله چلیک:(اَ-له-چل-یک)اسم- واحد- مذکر- اله ځیک- نیم نیمګوری ویلې واوره چي ځنې ځاې سپین او ځنې خالی وی-

اله داد:(اَ-له-داد)اسم- واحد- مذکر- پټ پټانے- درب دربے- د هلکانو یوه لوبه- پټ پټوسے-

اله کوله:(اَ-له-کو-له)اسم- واحد- مؤنث- شور شر- جنګ جګړه- اړه ګوړه- ګړبړ- بد انتظامی- اړے ګړے- جمع الې کولې-

اله مانه:(اَ-له-ما-نه)اسم- واحد/جمع- خامخا- ارومرو- په هر صورت- (د اله او مانه مرکب)-

الها:(اِل-ها)اسم- واحد- مؤنث- وګوری الهه-

الهاکی:(اِل-ها-کي)اسم- واحد- مؤنث- بددعا- ښېرې-

الهام:(اِل-هام)اسم- واحد- مذکر- د خدای پاک له خوا د انسان لهٔ هدایت د پاره نازل شوے کلام- د خدای خبری- جمع الهامات/الهامونه- (م- عربی)-

الهامی:(اِل-ها-مي)صفت- د الهام سره متعلق-

اله بولهٔ:(اَ-لهٔ-بو-لهٔ)اسم صفت- لېون سړے- لېون سارے- لېون غرے- لېون غر- لېون باکے- لیون شوت- لېونے- ساده بوده- لېون شوکے- لېون سارے-

الهنګ:(اِل-هنګ)اسم- واحد- مذکر- بې قراری- ژړا فریاد- ژړا انګولا- وېرتېړو- د زخمی هنګار- جمع الهنګونه-

الهه:(اِل-هه)اسم- واحد- مؤنث- خواهش آرزو- تلوسه- جمع الهې-

الی:(اَ-لي)حرف- د ندا توری چي د حېرانتیا په وخت کښې ونېلے شي- (م- اطلّی یا علی- پښتو)-

الی:(ا-لی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د زمکې سر ته هغه ټکره چي د یوې نه پاتې شي- سرېلنه- (۲)د ماشومانو یوه لوبه-

الیاس:(اِل-یاس)اسم- واحد- مذکر- د یو پېغمبر نامه چي په وچه باندې د مسافرو رهنمائی کوی- (م- عبرانی، عربی)-

الی الی:(اَ-لي-اَ-لي)اسم- جمع- مذکر- د ماشومانو د غنډسکې یوه لوبه چي کوناړو ته ی ورغورځی- شیطان کوټی- مېرغلے- مرغلے- الی ولی-

الیار (ال-یان)اسم- جمع- مؤنث- واکې (افغانستان)-

الی بلی (ا-لي-بَ-لي)اسم- فریاد- د انصاف غوښتنه- زاری-

الی تار:(اَ-لي-تار)اسم- واحد- مذکر- خوړلوړے- بڼکال-

الیت بلیت :(اِ-لیت-بَ-لیت)اسم صفت- مذکر- مات ګډ- زیروزبر- ګډوډ- تښ منښ-

الیت بلیت:(اِ-لیت-بَ-لیت)اسم صفت- وګوری الیت بلیت-

الی ترپ:(اَ-لي-ترپ)اسم- د وړو یوه لوبه چي پکښې دوه لوبغاړی یو بل ته مخامخ پښې وغزوی او نور لوبغاړی ترې ټوپونه وهي-

الی جملی:(اَ-لي-جَه-بَه-لي)اسم- پېشکورے- د ګډا یو قسم- د زنانو یوه لوبه چي د یو بل لاس ونیسي- او په ګډا کښې تېزې چورلی-

الی دودا:(اَ-لي-دو-دا)صفت- بې کاره سړے- خندنے-

الی دودو:(اَ-لي-دو-دو)اسم صفت- هغه سړے چي هر وخت په جلتی کښې وی-

الی دودو:(اَ-لي-دو-دو)اسم- واحد- مذکر- د یو مارغهٔ نوم- بتحک- سائنسی نوم سیګنس ایس پی پی (YGNISSPP)-

الی شرنګ:(اَ-لي-شرَنګ)اسم صوت- د ماشومانو په لوبو کښې یوه وینا-

الی شرنګ پبلی:(اَ-لي-شرَنګ-پَه-بَه-لي)اسم- د ماشومانو د یوې لوبې نامه-

الیښادے:(اَ-لي-ښا-دے)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه سړے چي په ولږنو کښې سندری ونیل يې پېشه وی-

الیکدے:(اَ-لي-کَ-دے)اسم- واحد- مذکر- ملا چرګک- ګوړی چرګ- ګوری چرګ- ملا چرچک- د یوې مرغۍ نوم-

الیمش:(اَ-لي-مَه-ش)صفت- په خوانی کښې مړ- خوانی مرګ-

الی ولی:(اَ-لي-وَ-لي)اسم- وګوری الی الی-

ئ" (غی-رل)، ئ"(مي-رم-ول)، ي"(ميا-لي)، ے"(تن-دے) تفصیل د پاره وګوری تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

الي خلي:(أَ-لي-خُ-لي)اسم- جمع- مؤنث- وګورئ: ځلي ځلي-

الي دوري:(أَ-لي-دو-ري)متعلق فعل/صفت- اخوابخوا- ملته دلته- يو خوا بل خوا-

الېش:(أ-لېش)اسم- واحد- مذکر- بدَل- عوض-

الېش و بدل:(أ-لېش-و-بـ-دَل)اسم- ادله بدله- عوض معاوضه-

الېشول:(أ-لي-ش-ول)مصدر- بدلول-

الېشولے:(أَ-لي-ش-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع الېشولي- مؤنث الېشولې- وګورئ: الېشول-

الېشون:(أ-لي-ش-ون)حاصل مصدر- وګورئ: الېشول-

الېشونکے:(أ-لي-ش-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع الېشونکي- مؤنث الېشونکې- وګورئ: الېشول-

الېشونګ:(أ-لي-ش-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ: الېشول-

الېشونه:(أ-لي-ش-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ: الېشول-

الېشېدل:(أ-لي-شي-دل)مصدر لازم- بدلېدل- تبديلېدل-

الېشېدلے:(أ-لي-شي-د-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع الېشېدلي- مؤنث الېشېدلې- وګورئ: الېشېدل-

الېشېدن:(أ-لي-شي-دن)حاصل مصدر- وګورئ: الېشېدل-

الېشېدنګ:(أ-لي-شي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ: الېشېدل-

الېشېدنه:(أ-لي-شي-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ: الېشېدل-

الېشېدونکے:(أ-لي-شي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع الېشېدونکي- مؤنث الېشېدونکې- وګورئ: الېشېدل-

الېشېده:(أ-لي-شي-ده)حاصل مصدر- وګورئ: الېشېدل-

الېک سلېک:(أ-لېک-سـ-لېک)اسم- وګورئ: علېک سلېک-

الېکشن:(أ-لېک-شن)اسم- واحد- مذکر- انتخاب- خوښونه- د سياسي نمائندګۍ د پاره مشر چوڼ کونه- (م- انګريزي)

الېل:(أ-لي-ل)مصدر- کنځل-

الېل (أ-لي-ل)مصدر متعدي- په اور سوزول-

الېلے:(أ-لي-لـ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع الېلي- مؤنث الېلې- وګورئ: الېل-

الېلنه:(أ-لي-لـ-نه)حاصل مصدر- وګورئ: الېل-

الېيل:(أ-لي-يل)مصدر- (١)بلېدل- روښانه کېدل- (٢)وريتېدل-

الېيلے:(أ-لي-يـ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع الېيلي- مؤنث الېيلې- وګورئ: الېيل-

الېين:(أ-لي-ين)حاصل مصدر- وګورئ: الېيل-

الېينګ:(أ-لي-ينګ)حاصل مصدر- وګورئ: الېيل-

الېينه:(أ-لي-يـ-نه)حاصل مصدر- وګورئ: الېيل-

الېيونکے:(أ-لي-يون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع الېيونکي- مؤنث الېيونکې- وګورئ: الېيل-

الي:(ا-لي)اسم- مؤنث- چرمينه- سرباندي-

الے ځلے:(أ-لے-ځـ-لے)اسم- واحد- مذکر- بخه خاوند دوه په دوه-

ام:(آم/أم)اسم- واحد- مذکر- د ګرمو او شګلنو سيمو يوه مشهوره خوږه مېوه او د هغې ونه- نباتاتي نوم مېنګی فېرا انډيکا (MANGI FERA INDICA)- جمع امونه- (ش- هندي)-

ام:(ام)اسم- د ماشومونو په ژبه کښې "خوراک"-

اما:(ا-ما)ضمير- وګورئ: زما-

اما:(أم-ما)حرف- خو- مګر- ليکن-

امابعد:(أم-ما-بعد)حرف- خو له دې نه پس- پس د هغې- بيا-

اماتور:(ا-ما-تور)اسم صفت- وګورئ: اناړی-

اماج:(أ-ماج)اسم- واحد- مذکر- ټکی- ګل زيرې- نښه- (م- فارسي)-

امادګي:(آ-ما-د-ګي)اسم- واحد- مؤنث- خوښه- رضا- غاړه کېښودنه- رضامندي- (م- فارسي)-

اماده:(آ-ما-ده)اسم صفت- چمتو- جوړ- تيار- رضا- راضي- رضامند- راضي مند-

امارت:(أ-ما-رت)اسم- اميري- مشري- ام- عربي)-

امارکه:(أ-مار-که)اسم- مذکر- أومبارکے- د ماشومانو سخا دانې-

اماره:(أم-ما-ره)اسم صفت- حکم کونکے- (د نفس اماره په شکل کښې استعماليږي)- (م- عربي)-

اماکما:(أ-ما-کـ-ما)اصطلاح- لرې نژدې- دالې دورې- ليسته بيسته- اخوا دېخوا- يو ځاې بل ځاې- د لرې لرې- (م- غالباً د امازي او کمازي محقف)-

اماله:(ا-ما-له)اسم- نرمېدنه- مائلېدنه- د ګرامر هغه قاعده چې د هغې لاندې زور د زېر په شان لستے شي لکه د رکاب په ځاې رکېب- (م- عربي)-

اماله:(ا-ما-له)اسم- واحد- مؤنث- باتې- ترسه- د قبض ماتولو باتې-

امام:(ا-مام)اسم صفت- واحد- مذکر- (١)پېشوا- رهنما- (٢)نمونځ ورکونکے- (٢- اسم)د تسبو غټه دانه- (م- عربي)-

امام:(آ-مام)اسم- وګورئ: حمام- (م- حمام)-

امام باړه:(ا-مام-با-ړه)اسم- واحد- مؤنث- د اثنا عشري مسلمانانو د مجلس اورېدو ځاې- جمع امام باړې-

امامت:(ا-ما-مت)اسم- (١)مشري- سرداري- د امام عهده- مذهبي لوئ والے- (٢)د لارې ښودنه- رهنمائي- قيادت-

امامتي:(ا-ما-م-تي)اسم- واحد- مؤنث- د امامت کار- د نمونځ ورکولو کار-

اماميه:(ا-ما-مي-يه)صفت- د امامانو سره متعلق- د شيعه مسلمانانو ټولے-

امان:(أ-مان)اسم- واحد- مذکر- (١)پناه- حفاظت- (٢)آرام و آسائش-

امان:(أ-مان)اسم- واحد- مذکر- يو قسم بوټے چې د پڼيو او شوملو

www pukhto net

دٔ لوبي دٔ رنګولو دٔ پاره استعماليږي۔

امانت:(اَ-ما-نَت)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ پهٔ اعتبار ورکړے څيز۔ چا سره پهٔ حفاظت کښې دٔ ايښودلو دٔ پاره ورکړے څيز۔

امانت دار :(اَ-ما-نَت-دار)صفت۔ مذکر۔ امانتي۔ امانت ګر۔ امين۔ دٔ امانت څيز پهٔ حفاظت سره ساتونکے۔ (م۔ عربي)۔

امانت داري:(اَ-ما-نَت-دا-ري)اسم۔ امانت لرنه۔ دٔ امانت خيال ساتنه۔ (م۔ عربي)۔

امانت سلامت:(اَ-ما-نَت-سَ-لا-مَت)صفت۔ روغ جوړ۔ صحيح سالم۔ پهٔ تول پوره۔

امانت ګر :(اَ-ما-نَت-ګر)اسم صفت۔ وګورئ امانت دار۔ (م۔ عربي)۔

امانته:(ا-ما-نَ-ته)اسم صفت۔ واحد۔ مؤنث۔ ټوله۔ ټوله پهٔ ټوله۔

امانتي:(ا-ما-نت-تي)اسم صفت۔ مذکر۔امانت ګر۔ امين۔ معتمد۔ ديانتدار۔ امانت دار۔ جمع امانتيان۔

امانته:(ا-ما-نَ-ته)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)واورهٔ او باران ګډوډ۔ (۲)دٔ واورې غټې دانې۔ دٔ واورې غټ پوسي۔ امنته۔

امانژ:(اَ-مان-ژَن)اسم۔ امان۔ يو قسم بوټے۔

اماني:(اَ-ما-ني)اسم صفت۔ (۱)پوره۔ ټول۔ سالم۔ (۲)پټ۔ خوندي۔ اعتباري۔ (۳۔ اسم)بياړي۔ مزدوري۔ کچه مزدوري۔ (۴)يو کار پهٔ ټيکه ورکونه۔ دٔ اجارې ضد۔

اماني سلامي:(اَ-ما-ني-سَ-لا-مي)اسم صفت۔ (۱)سلامت۔ (۲)محفوظ۔ ثابت۔ (۳)روغ جوړ۔

اماني:(اَ-ما-ني)اسم۔ واحد/جمع۔ مؤنث۔ دٔ امير امان الله خان دٔ دور افغاني۔

امانے:(اَ-ما-نے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دٔ لوندې ختې ټکړه چې دٔ کلکولو نه پس پکښې ماشومان سوړے وکړي او دٔ چورلندي لوبه پرې کوي۔

امبا:(اَم-با)اسم صوت۔ دٔ غوا اواز۔ دٔ غوا بغا۔ دٔ غوا پرته۔

امبار :(اَم-بار)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)ډېرے۔ ډېر۔ (۲)ذخيره۔ (۳)دٔ غلې ګودام۔ (۴۔ صفت)بې قدره څيز۔ جمع امبارونه۔

امبارخانه:(اَم-بار-خا-نه)اسم۔ دٔ غلې دٔ ذخيره کولو ځاے۔ ګودام۔ انبار خانه۔

امبارک:(اَم-با-رک)صفت۔ برکتي۔ برکت لرونکے۔ مُبارک۔

امبارکش:(اَم-بار-کَش)اسم فاعل/صفت۔ واحد۔ مذکر۔ دٔ کشتۍ ملګے۔ دٔ کشتۍ څپېره يا چپه وهونکے۔

امبارکي:(اَم-با-ر-کي)اسم۔ مؤنث۔ مبارکي۔ مرغشکے۔ دٔ چا پهٔ خوشحالۍ مننهٔ نه خوشحالي ظاهرونه۔

امبارکي:(اَم-با-رهٔ-کي)اسم۔ جمع۔ مؤنث۔ دٔ سترګې شېبرې ټبې دانې۔

امبارکے:(اَم-با-ر-کے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)دٔ برکت دُعا۔ (۲)دٔ سترګې ګل۔ (۳)پوله۔

امباري:(اَم-با-ري)اسم۔ جمع۔ مؤنث۔ ذخيرې۔

امباري:(اَم-با-ري)اسم۔ واحد/جمع۔ مؤنث۔ دٔ يوې غرنيزې ونې نامه۔

امباله:(اَم-با-له)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)چبوتره۔ (۲)مُناره۔ (۳)کجاوه۔ امبالې۔ امباني۔ جمع امبالې۔

امبالي:(اَم-با-لي)اسم۔ واحد/جمع۔ مؤنث۔ (۱)کجاوه۔ (۲)هغه پولې چې پهٔ اوښ يا ملټۍ باندې وړلے شي۔

امبالي:(اَم-با-لي)اسم۔ واحد/جمع۔ مؤنث۔ (۱)اوړنه۔ (۲)سر پهٔ سر ايښودنه۔

امبانکه:(اَم-با-نَ-که)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ غټه شان دانه چې صر کښې راځيږي۔ مورينه دانه۔

امباني:(اَم-با-ني)اسم۔ واحد/جمع۔ مؤنث۔ دٔ اوښ کجاوه۔ دٔ ناوې امبالې۔ امباله۔

امبر :(اَم-بَر)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)کهربا۔ (۲)يو خوشبودار څيز۔ (م۔ عربي۔ عنبر)۔

امبرانے:(اَم-بَر-ا-نے)اسم۔ مؤنث۔ دٔ ماشومانو يوه لوبه۔ امرانه۔ أنګۍ مل دې څوک۔

امبر لوبه:(اَم-بَر-لو-به)اسم۔ مؤنث۔ دٔ پنډوس دٔ لوبې يو قسم۔

امبره:(اَمبَ-ره)اسم صفت۔ مومره۔

امبر چمبر :(اَم-بر-چَم-بر)اسم صفت۔ يو بل کښې ننوتے۔ مُشت و ګرېوان۔ پرزونه۔ يو بل سره ښخ۔ عوبمې۔ خرېخې۔ خرتيخې۔

امبور:(اَم-بُور)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دٔ ترکاڼ، لوهار او نورو کسب ګرو هغه کالے چې دٔ کڼهٔ ښخ څيز مثلاً ميخ وغيره ويستلو دٔ پاره پکاريږي۔ جمع امبوروونه۔ (ش۔ فارسي)۔

امبولک سيدالک:(اَم-بو-لَک-سي-دا-لک)اسم۔ مذکر۔ دٔ زنانوو يو قسم ګډا۔

امبيل:(اَم-بيل)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ امېل۔ هار۔ منه۔ منے۔ جمع امبيلونه۔ (م۔ عربي حمائل)۔

امپېره ککے:(اَمپَ-ره-ک-کے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ ګلي ونډي۔ ابس ونډي۔ پنها ګلي۔ دٔ ملکانو يوه لوبه۔

امبه:(اَم-به)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ دٔ کاني نه جوړ شوے دٔ غوان بوټ۔

امت:(اُم-مَت)اسم۔ واحد/جمع۔ مذکر۔ دٔ يو رسول منونکے جماعت۔ ټولے۔ جمع اُمتونه۔

امتحان:(اِم-تِ-حان)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ ازمائنه۔ ازموينه۔ ازمائېل۔ ازمېښت۔ (م۔ عربي)۔

امتحاني:(اِم-تِ-حا-ني)متعلق فعل۔ دٔ امتحان سره متعلق۔ وګورئ امتحان۔ (م۔ عربي)۔

امتداد (اِم-تِ-داد)اسم۔ (۱)غزېدنه۔ وږدېدنه۔ وُږدوالے۔ (۲)دٔ جيوميټرۍ پهٔ اصطلاح وږدوالے، پلن والے او ژوروالے۔

امته:(اَم-ته)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ هيله۔ طمع۔ آرزو۔ توقع۔ (افغانستان)۔

امته دار :(اَم-ته-دار)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ پامته دار۔

ئ (ئي-رِل)، ئې (ئې-رِ-مول)، ی (يـا-لي)، ے (تن-دے) تفصيل دٔ پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

امتي:(اُم-مه-تي)اسم- دُ اُمت سره متعلق- (ث- عربي)-

امتياز:(ام-ت-ياز)اسم- واحد- مذکر- بېلتون- فرق- پرخ- تميز- جدائي- (م- عربي)-

امتيازي:(ام-ت-يا-زي)متعلق فعل- دُ امتياز سره متعلق- وګورئ امتياز-

امجد:(اَم-جد)اسم تفضيل صفت- واحد- مذکر- ډېر معزز- زيات عزت من- ډېر قدرور- (م- عربي)-

امجل منجل:(اَم-جَل-مَن-جَل)اسم صفت- وګورئ لرجل برجل-

امچه:(ا-م-چه)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)بېکاره- نامرد- چونا- نرښځے- (۲)مديدے-

امچوره:(ام-چو-ره)اسم- د کچه ام وچې کړی ترازې چې د اوړهٔ کېدو نه پس په مصالحه کښې استعماليږي-

امخته:(اَمخ-ته)اسم صفت- عادت شوے- عادتي- اموخته- روږدے-

آمد:(آ-مَد)اسم- واحد- مذکر- (۱)کته- آمدن- آمدني- (۲)دُ شاعري يوه اصطلاح- زړهٔ کښې پيدا شوی خبره-

امداد:(ام-داد)اسم- واحد- مذکر- مرسته- کومک- مدد- (م- عربي)-

آمدن:(آ-مه-دَن)اسم- واحد- مذکر- امدني- ګټه- فائده- حاصل- (م- فارسي)-

امدني:(آمه-دَني)اسم- آمدن-

امد و رفت:(آمَد-و-رَفت)اسم- واحد- مذکر- تلنه را تلنه- تعلق- راشه درشه- تلهٔ راتلهٔ- تګ راتګ- (م- فارسي)-

آمر:(آ-مر)اسم صفت فاعل- واحد- مذکر- حاکم- حکم ورکونکے- وکېنيونکے- حکم کوونکے- (م- فارسي)-

امر:(ا-مر)اسم- واحد- مذکر- (۱)حکم- کار- (۲)لهٔ خدايه شوی وي- جمع اوامر- (م- عربي)-

امرا:(اُ-مه-را)اسم صفت- جمع- مذکر- (۱)دُ امير جمع- غټان- لويان- دولت مند- (۲)دُ سلطنت ارکان- (م- عربي)-

امراض:(اَم-راض)اسم- جمع- مذکر- دُ مرض جمع- مرضونه- بيمارۍ- ناروغتيا- (م- عربي)-

امرد:(اَم-رَد)اسم صفت- هغه هلک چې لا دُ ږيرې خط يې پهٔ مخ نهٔ وي راغلے- پالهٔ مخ هلک- نوعمر- ښکلے هلک- ځنيے- پټه- نوخېز- سپينه خلهٔ هلک- بې مخے هلک- کچه خلهٔ هلک- (م- فارسي)-

امرزنه:(امر-زمنه)اسم- معافي- معاف کونه-

امرسه:(اَم-رسه)اسم- واحد- مؤنث- دُ وريږو د اوړو نه جوړ خوږ ککوړے- چې غوړو کښې پخ شوے وي- جمع امرسې- (م- هندي)- (ث- امرتي-ش- اندرسا)-

امرګان:(اُمر-ګان)اسم صفت- جمع- مذکر- وګورئ امرا- (متروک)-

امرل:(اَ-م-رَل)مصدر متعدي- جنس پهٔ جنس بدلول- دُ يو قسم ګاروی دُ بل قسم نه بېلول-

امرلے:(ا-مَر-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع امرلي- مؤنث امرلې- وګورئ امرل-

امرنه:(اَم-رمنه)اسم- انتخاب- خوښونه- چوڼ کونه-

امروت:(اَم-رُوت)اسم- واحد- مذکر- دُ يوې مشهورې ونې او دُ هغې دُ مېوې نامه- امرود- جمع امروتان- دُ نباتاتي نوم دُ پاره وګورئ امرود-

امرود:(اَم-رُود)اسم- واحد- مذکر- وګورئ امروت- نباتاتي نوم سيډيم ګوجاوا ابل (PSIDIUM GUJAVA L)-

امروزه:(ام-رو-زه)صفت متعلق فعل- مروزه روان- جاري- روزمره- دُ يوې ورځې پهٔ دوران کښې-

امروزي:(ام-رو-زي)اسم- جمع- مؤنث- يو قسم آسماني رنګ ململ چې سپين بکی پکښې وي-

امرونکے:(اَم-رَن-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع امرونکي- مؤنث امرونکې- وګورئ امرل-

امره:(اَم-ره)اسم صفت- اسم- متعلق فعل- وګورئ امبره-

امريت:(آ-م-ري-يت)تول واکي- ټول واکتوب- دُ امر حکومت- امرانه نظام- يو حکومتي شبه- (پاټريکټريټ) (افغانستان)-

امريکه:(ام-ري-که)اسم- واحد- مؤنث- نوې دنيا چې کولمبس پهٔ ۱۴۹۸ کښې معلومه کړې وه-

امرق:(اَم-رَق)اسم- واحد- مذکر- تويونه- مستي- (م- همکنا- هندي)-

امري:(ام-ري)اسم- واحد- مؤنث- مور- (م- هندي)- (امروت)-

امرے:(اَم-رے)اسم- واحد- مذکر- وروميے- مخکښې- لومبړے- مؤنث اُمرۍ- جمع امرۍ-

امرے:(اَم-رے)اسم صفت- کچه- يو ستوے- ټپرے- باستوے- اَوم-

امزروتے:(ام-زمرو-تے)اسم تصغير- واحد- مذکر- د امزری اسم تصغير-

امزرے:(اَم-زَ-رے)اسم- واحد- مذکر- همزرے- ازمرے- مزرے- مغزرے- زمرے- جمع امزري-

امسا:(اَم-سا)اسم- واحد- مؤنث- دُ لاس لرګے- کونټي- لکړه-

امساک:(ام-ساک)اسم- (۱)التوا- ايسارونه- (۲)دُ انزال ايسارونه- (۳)دُ مال ايسارونه او نهٔ خرڅ کونه- (۴)دُ باران نه کېدنه- (م- عربي)-

امست:(ا-مست)اسم- واحد- مذکر- (۱)دُ ډېرلوکار- (۲)سپين ګيز-

امستل:(اَ-مس-تَل)مصدر متعدي- بېلول- جدا کول- دُ يو بل نه پکښې فرق کول- کوښې ګوښې کول- بېلتون راوستل- تميز کول- (افغانستان)-

امستل:(اَمس-تل)مصدر- پېرل- پهٔ مزی کښې څهٔ پېرل-

امستلے:(اَ-مس-تَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع اُمستلي- مؤنث اُمستلې- وګورئ آمستل-

امستن:(اَ-مس-تَن)حاصل مصدر- وګورئ امستل-

امستن:(اَ-مس-تَن)حاصل مصدر- وګورئ اُمستل-

امستنګ:(اَ-مس-تَنګ)حاصل مصدر- وګورئ اُمستل-

www.pukhto.net

امستنګ:(أ-مس-تنګ)حاصل مصدر- وګورئ امستل-

امستنه:(أ-مُس-تَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ اَمستل-

امستنه:(أ-مس-تَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ اُمستل-

امستونکے:(أ-مَس-تُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع اُمستونکي- مؤنث امستونکي- وګورئ امُستل-

امستونکے:(ا-مس-تون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع امستونکي- مؤنث اُمستونکې- وګورئ اَمستل-

امُستهٔ:(أ-مُس-تهٔ)حاصل مصدر- وګورئ اُمستل-

امستهٔ:(أ-مس-تهٔ)حاصل مصدر- وګورئ اُمستل-

امستے:(أ-مس-تے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع امستي- مؤنث امستې- وګورئ اُمستل-

امضا:(ام-ضا)اسم- واحد- مذکر- دستخط- (د افغانستان توري)-

امغاړے:(اَم-غا-ړے)اسم- واحد- مذکر- ممغاړے- ملګرے- رفیق- جمع امغاړي- وګورئ ممغاړے-

امغانه:(ام-غا-نه)اسم- واحد- مؤنث- جمع امغانې- وګورئ مُغانه-

امغړن:(أم-غ-ړن)اسم صفت- مذکر- وګورئ امغلن-

امغلن:(أم-غ-لن)اسم صفت- مذکر- (۱)اُم- کچه- خمسوزه- نیم پخته- خرموزه- (۲)الهٔ وخته مخکښې پیدا شوے ماشوم- امغړن-

امکان:(اِم-کان)اسم- کېدنه- د واقع کېدو یا ممکن کېدو صلاحیت- د وجوب ضد- جمع امکانات- (عربي)-

امکاني:(اِم-کا-ني)اسم صفت- د امکان سره متعلق- تر وسه پورې-

امکوړے:(اَم-کو-ړے)اسم- مذکر- د ځیرونکي ځناور بچے-

امکه:(أ-مهٔ-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ترور- پوپو- دٔ پلار خور- جمع امکې- (۲)پسته زمکه- (صفت)-

امکي:(أ-مهٔ-کي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- د پلار خور- ترور-

امکوړے:(اَم-کُو-ړے)اسم- واحد- مذکر- دٔ ځیرونکو ځناورو بچے- جمع امکوړي-

امل:(أ-مل)اسم- (۱)وجه- (۲)رخت-

امل:(أ-مَل)اسم- واحد- مذکر- آرزو- اُمید- جمع آمال- (م- عربي)-

امل:(أ-مَل)اسم- واحد- مذکر- عمل- دٔ نشه لرونکو څیزونو عادت- جمع املونه- وګورئ عمَل-

املا:(اِم-لا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د چا دٔ وینا دٔ لیک نُود مطابق لیکنه- (۲)د امتحان پهٔ ډول د بل وئیلے عبارت لیکنه- (۳)دٔ لیک طرز- جمع املاګانې-

املاک:(اَم-لاک)اسم- جمع- مذکر- دٔ ملک جمع- جائیداد- مال- اسباب- جاګیر-

املائي:(اِم-لا-ئي)اسم صفت- د املا سره منسوب-

املتاس:(ا-مل-تاس)اسم- جمع- مذکر- یوه وُنه چې د کښلي هومره زړده زی او حکیمان يې دَ جولابو دٔ پاره تجویز کوی- لاندېس- ګرډنلے- جرګ لاټوبن- خلاص پلے- نباتاتي نوم کېشیاسټولا- اېل (CASSIA FISTULA L)-

املوټ:(اِم-لوټ)اسم- واحد- مذکر- یو قسم لوبه-

املوک:(اِم-لوک)اسم- واحد- مذکر- (۱)دٔ یوې وُنې او دٔ هغې دٔ مېوې نامه- نباتاتي نوم ډایوسپائي روس لوټس- اېل (DIOSPYROS LOTUS L)-

امله:(اِم-له)اسم- واحد- مؤنث- یو کېچ خوند لرونکې مېوه چې مربّه ترې جوړیږي- وګورئ اوله- نباتاتي نوم امبلیکا آفي سینلس ګارټن (EMBLICA OFFICINALIS GAERTN)-

املي:(اِم-لي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- یوه وُنه او دٔ هغې مېوه چې ترشه وي- دٔ طبیبانو پهٔ اصطلاح کښې تمرهندي- نباتاتي نوم فیلنتس امبلیکا (PHYLLANTHUS EMBLICA)-

املي:(اِم-لي)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ عملي- (م- عربي عملي)-

املېل:(اَم-لي-ل)مصدر- پېژنل-

املېلے:(اِم-لي-یئ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع املېلي- مؤنث املېلې- وګورئ املېل-

املېن:(اَم-لي-ین)حاصل مصدر- وګورئ املېل-

املېنګ:(اَم-لي-ینګ)حاصل مصدر- وګورئ املېل-

املېنه:(اِم-لي-ینه)حاصل مصدر- وګورئ املېل-

املېونکے:(اَم-لي-یون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع املېونکي- مؤنث امېونکې- وګورئ املېل-

امم:(أ-مَم)اسم- جمع-مذکر- دٔ اُمت جمع- وګورئ اُمت- (م- عربي)-

امن:(ا-مَن)اسم- واحد- مذکر- (۱)صلح- حفاظت- (۲)اطمینان- آرام- امان- پناه- د جنګ ضد- (م- عربي)-

امنا:(ام-نا)اسم- واحد- مؤنث- اتفاق- پهٔ یوه فیصله متفق کېدنه- (م- عربي امنّا- مونږ ایمان راوړو)-

امن امان:(ا-مَن-أ-مان)اسم- سکون- دٔ جنګ ضد- د خطرې ضد- پناه-

امن بامن:(أ-مَن-با-مَن)اسم- د سختې پخنې برې ورځې

امنته:(أ-من-ته)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ امانته-

امنول:(ام-نه-وَل)مصدر- وګورئ اِیمنول-

امنه:(أم-نه)اسم- ناڅاپه- بې طمع- ناګهانه-

امنیت:(ام-ني-یت)اسم- واحد- مذکر- امنه- صلح- آرامي- قراري- دٔ پولیس محکمه (افغانستان)-

اموات:(ام-وات)اسم- جمع- مرګونه- واحد موت- (م- عربي)-

امواج:(ام-واج)اسم- جمع- مذکر- چپې- څپې- واحد موج-

اموال:(اَم-وال)اسم- جمع- مذکر- مالونه- واحد مال-

اموخت:(ا-موخت)اسم- (۱)عادت نیونه- خوئي نیونه- بلدتیا- (۲)مینه- اُنس-

اموخته:(ا-موخ-ته)اسم صفت- واحد جمع مذکر مؤنث- عادت شوے- عادي- د وحشي ضد- زده کړے- امخته- روږدے- (فارسي- اموختن)-

ئ: (غي-رل)، ي: (مي-ره-ول)، ئ: (پیا-لي)، ے: (تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

امودود:(اَ-مُو-دُود)اسم- واحد- مذکر- عامه خاموشي- چپه چپيا- دم کېدنه-
امور:(اُ-مُور)اسم- جمع- مذکر- (۱)دَ امر جمع- کارونه- ډېر کارونه- (۲)احکام-
امه:(اَ-مه)اسم- واحد- مؤنث- طمع- توقع- دا لفظ دَ طمعې سره يو ځايْ ونيلے شي-
امه رمه:(اَ-مه-رَ-مه)اسم- مُرکّب- الزام لګونه- جمع امې رمې- (دَ "امه" او "رمه" مُرکّب)-
امه و رمه:(اَ-مه-وَر-مه)اسم- واحد- مؤنث- دَ ببېيو يا شېښتو، سپېښتو دَ لوبو قسم-
امي:(اُم-مي)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)نالُستے- (۲)دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم يو صفتي نوم- جمع اميان- (م- عربي)-
اميانې:(اَم-يا-نې)اسم- واحد/جمع- مذکر- وګورئ همياني- (ش- فارسي، هندي)-
اميد:(اُ-ميد)اسم- واحد- مذکر- طمع- توقع- آرزو- اَسره- هيله- جمع اُميدونه-
اميدوار:(اُ-ميدْ-وار)اسم صفت- واحد- مذکر- جمع اُميدواران- مؤنث اُميدواره- (۱)اُميد لرونکے- په يقين سره طمع لرونکے- خاص يقين لرونکے- (۲)امتحان کښې شامل طالب علم- امېندوار- (فارسي)-
اميدواره:(اُ-ميدْ-وا-ره)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)هغه ښځه يا ماده ځناور چې په کېده ئې بچے وي- امېندواره- (۲)دَ اُميد وار مؤنث-
اميدواري:(اُ-ميدْ-وا-ري)(۱)هيله- (۲)اُميد- (۳)آسره- (۴)اُمېند- اُمېن- (۵)توقع-
اميده:(اَ-مي-ده)اسم صفت- په سوم شريک- عزيز چې د دوو کسانو د مامې شريک سومره يو شانې وي- همسام-
امير (اَ-مير)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)حاکم- حکم کوونکے- (۲)والي- (۳) دولتمند- (۴)دَ لښکر سالار- (۵)دَ قافلې مشر-
اميرانه:(اَ-مي-را-نه)متعلق فعل/صفت- دَ امير په ډول-
اميربازي:(اَ-مير-با-زي)اسم- واحد- مؤنث- دَ ملګانو يو لوبه-
اميري:(اَ-مي-ري)اسم صفت- دَ امير سره منسوب-
اميري:(اَ-مي-ري)اسم- واحد/جمع- (۱)دَ سپينو انګورو يو قسم- (۲)دَ خټکو يو قسم-
امين:(اَ-مين)اسم صفت- امانت ګر- (م- عربي)-
امين:(آ-مين)دَ ماشوم د پيدا کېدو په وخت، او د قرآن شريف د ختم په موقع يو خاص تعريف-
امين:(اَ-مين)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه واسې دې و شي- (۲)منښه- (۳)قبلونه- (۴)پرېکړه- (۵)فيصله- (م- عربي)-
امين دان:(اَمين-دان)اسم صفت- واحد- مذکر- صابر- شکرګزار-
امينکو:(اَ-مين-کو)اسم- وګورئ ارغولے-
امينکي:(اَ-مين-کي)اسم- وګورئ ارغولے-
امېز:(اَ-مېز)لاحقه- دَ ګډون معنې ورکونکې لاحقه، مثلاً شکر آمېز، چې شکره پکښې ګډه وي-
امېزش:(آ-مې-زش)اسم- واحد- مذکر- (۱)ګډون- (۲)خمسورتيا- جمع اَمېزشونه- (ش- فارسي)-
امېزي:(آ-مې-زې)اسم صفت- جمع- مذکر- ماشوم چې دَ مور په ګېډه کښې تولپونه وهي- اوښې پوښې- څپرکې-
امېغ:(اَ-مېغ)اسم صفت- خيرن- خيرن- چې صفا نه وي-
امېل:(اَ-مېل)اسم- واحد- مذکر- هار- دَ غاړې کالے- جمع امېلونه- وګورئ امېل- (م- حمائل- عربي)-
امېند:(اُ-مېند)اسم- واحد- مذکر- وګورئ اميد- جمع امېندونه-
امېندوار:(اُ-مېندْ-وار)اسم فاعل صفت- مذکر- جمع امېندواران- واحد/مؤنث اُمېندواره- جمع مؤنث امېندوارې- وګورئ اميدوار-
امېندواره:(اُ-مېندْ-وا-ره)اسم صفت- واحد- مؤنث- وګورئ اُميدواره-
امے:(اَ-مے)اسم- واحد- مذکر- دَ ځناورو يو بيماري- (جمع امې)-
ان:(اَن)اسم صفت- لغړ- بربنډ-
ان:(آن)اسم- واحد- مذکر- جمع نه استعمالېږي- لحظه- معمولي وقفه- دَ وخت ډېر ووکے مقدار- (م- شايد- لن- عربي)-
ان:(آن)اسم- واحد- مذکر- (۱)عن- بالکل- بېخو- بېخودنے- (۲)وس- کوشش- قوت- طاقت-
ان:(آن)لاحقه- دَ جمع مذکر په لاحقو کښې يو لاحقه لکه خان نه خانان-
انا:(اَ-نا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)اصل معنی "زهٔ" (دَ عربي واحد متکلم)- (۲)خودي- خودداري (مقابله وګړئ انانيت سره)- (م- عربي)-
انا:(اَ-نا)اسم صفت- بربنډ- (بنګين، تيراه، کرم ايجنسي)-
انا:(اَ-نا)اسم- واحد- مؤنث- نيا- دَ مور يا پلار مور- (۲)هرې مشرې ښځې ته دَ احترام کلمه- جمع اناګانې-
انابت:(اِ-نا-بت)اسم- توجه کېدنه (خدائ پاک ته)- توبه کونه- بار بار رجوع کونه- (م- عربي)-
اناپ:(اَ-ناپ)اسم- واحد- مذکر- مرخنې- مرخانې- عناب- نباتاتي نوم ززي فس سيټيوا (ZIZYPHUS SATIVA)-
اناتيتي:(اَ-نا-تي-تي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)دَ ماشومانو يوه لوبه- (۲)روند چرګ- (۲)ړنده خره-
اناجيل:(اَ-نا-جيل)اسم- جمع- مذکر- دَ انجيل جمع- څلور انجيلونه- دَ يوحنا، متی، مرقس او لوقا کتابونه-
بډانی:(بـَ-ډا-نی)اسم- مؤنث- (۱)لوئی- غرور- کبر- فخر- مغرور کېدنه- دولت مندی- بډاینه- شتهٔ منی- (کول مصدر)-

بډایول:(ب-ډا-یه-ول)مصدر متعدی- دولت من کول- بډ کول- شتهٔ من کول- مرتمند کول-

بډایتوب:(به-ډا-یه-توب)اسم- شتهٔ من توب- شتهٔ منی- بډانی- دولتمندی-

بډاینه:(بَـ-ډا-یه-نه)حاصل مصدر- وګوری بډایتوب-

بډائے:(به-ډا-ئے)اسم صفت- واحد- مذکر- موړ- بډا- شتهٔ من- دولت من- (م- مندی)-

بډبول:(بډ-بول)اسم صفت- مذکر- رښتونے- سپین زړے- صیبی صیبی ویونکے- حقیقت پسند- مونث بډبوله- جمع بډبولي-

بډبولتوب:(بډ-بول-توب)اسم- سپینه وېنا- صفا خبرې- بډبولتیا- په ډاګه وېنا-

بډبولتیا:(بډ-بول-تیا)اسم- وګورئ بډبولتوب-

بډبولولی:(بډ-بول-و-لی)اسم- وګورئ بډبولتوب-

بډک:(به-ډک)اسم- واحد- مذکر- د لوړې ګل چې بالښتونو کښې هم اچولے شی- بډکال- بډګال- بډغال- بډه ګال- سائنسی نوم سکه چیرم سپلیو -SOCCHARUM CILIARE-

بډکی:(به-ډ-کی)اسم- بې ځایه کرخېدنه- اواره ګرئ- خشی ګرځېدنه- بې ځایه ناسته ولاړه- ایله ګرځېدنه-

بډل:(به-ډل)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)سُست- لټ- بېکاره- خوړب- تیار- (۲)دَ ګیدړ وادهٔ- د نمر سره د باران کېدنه-

بډو:(به-ډو)اسم صفت- رشوت خور- رشوت اخستونکے- بډې خور- بډې مار-

بډوړے:(به-ډو-ړے)اسم- واحد- مذکر- پښتورګے- بډوکے- بډوګے- ګرده- جمع بډوړی-

بډوکے:(به-ډو-کے)اسم- واحد- مذکر- جمع بډوکی- وګورئ بډوړے-

بډوګو:(به-ډو-ګو)اسم- واحد- مؤنث- بډوړی- زړه- سپین سرې- هغه زړه ښځه چې ملا یې کږه وی-

بډوکے:(به-ډو-کے)اسم- واحد- مذکر- جمع بډوکی- وګورئ بډوړے-

بډوګے:(به-ډو-ګے)اسم- واحد- مذکر- د بډوګو مذکر- زوړ- سپین ږیرے- زوړ سړے- د ډېر عمر سړے- جمع بډوګی-

بډولی:(به-ډو-لی)اسم- واحد جمع- مؤنث- دَ خاورو کوزه- کوزړی- کوزنۍ- خاورینه کوزه- جمع بډولي-

بډه:(ب-ډه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)لکه- د پرتوګ پاسنی برخه- (۲)پټه- په برناکه کښې دَ پرتوغابې اچولو ځای- تښه تښانه- (۲)دَ میاشتې آخری ورځې چې سپوږمۍ پکښې نهٔ وی- (۴)غیر حاضری- ناغه- (۵)برابر اموزل- دوه څیزونه چې په تول کښې برابر وی- (۲)دَ څمو کلمو سره راځی لکه پډه بډه-

بډه اوبۍ:(به-ډه-اوبۍ)اسم- واحد- مذکر- کوړے کومره- یو غونیز بوټے چې د څارووو او انسانانو د پاره دارو کښې استعمالولے شی- سائنسی نوم اکرکرنتس سپنو سورانسډر -CRACKANTHECYNCHR...-

بډه بول:(به-ډه-بول)اسم صفت- وګورئ بډبول-

بډه بېره:(به-ډه-بې-ره)اسم- واحد- مؤنث- سُوابېره- غټه بېره- دَ غټې بېرې یو قسم-

بډه غال:(به-ډه-غال)اسم- واحد- مذکر- وګورئ بډک- سائنسی نوم دَ پاره وګورئ بډک-

بډه کار:(به-ډه-کار)اسم صفت- واحد- مذکر- ډېر زیات خوړونکے- مؤنث بډه کاره-

بډه ګال:(به-ډه-ګال)اسم- واحد- مذکر- وګورئ بډک-

بډه ور:(به-ډه-ور)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)بډه لرونکے- (۲)بانېدګے- ساره-

بډی:(ب-ډی)اسم صفت- واحد- مذکر- بډې اخستونکے- بډې مار- رشوتی- رشوت خور-

بډیانی:(به-ډیا-نی)اسم- مؤنث- زډبلی- لوئی- کبر-تکبر- فخر- لاف-

ی- (ښی-رل)، ی-(مې-ره-ول)، ی-(ښا-لی)، ې-(تی-دیر) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات، صفحه۱۱

www.pukhto.net

بړی:(بِه‌ـړي)اسم- جمع- مؤنث- رشوت- ناجائزه پیسې-

بړي خور:(بِه‌ـړي‌ـخور)اسم صفت- واحد- مذکر- رشوت خور- بړي مار- بړي اخستونکے- جمع بړي خوارۀ- مؤنث بړي خوره- جمع مؤنث بړي خورې-

بړي مار:(بِه‌ـړي‌ـمار)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ بړي خور- جمع بړي ماران-

بړی:(ب‌ـړی)اسم- واحد جمع- مؤنث- د لامبو یو قسم- ګړو-

بړی لامبو:(بِه‌ـړی‌ـلام‌ـبو)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ بړی-

بړے:(ب‌ـړی)اسم صفت- (۱)هغه څوک چې یو لاس ئې پریکړے شوے وی- سوټے- شونټے- چوټے- (۲)ابدول- جوړه- سیال- د مقابلې ور-

بدله:(بذ‌ـله)اسم- واحد- مؤنث- لطیفه- ټوقه- مذاق- وشته- د خوش طبعۍ خبره- (م- عربی)-

بدله سنج:(بذ‌ـله‌ـسنج)اسم صفت- خوش طبع- خوشحال لروا- خنده رویه- ګپ شپی- (فارسی)-

بذله ګو:(بذ‌ـله‌ـګو)اسم صفت- مذکر- وګورئ بذله سنج- (م- فارسی)-

بذله ګوئی:(بذ‌ـله‌ـګو‌ـئی)اسم- مؤنث- هغه خبرې چې د ګپ شپ وی او مزاح لری-

بر:(بر)حرف ندا- (۱)د مارغۀ، بمبۍ، جنهی یا د کاغذ او داسې نورو شیزونو اواز- (۲)چې د وطو سره یو ځائ راشی نو معنٰی ئې تسندل، به دز تلل وی-

بر:(بر)اسم- واحد- مذکر- (۱)عالم- کوزن- کوزړې- (۲)میوه- حاصل-

بر:(بر)اسم- واحد- مذکر- یرقان- زیړے- (افغانستان)-

بر:(بر)اسم- واحد- مذکر- غېږ- (م- فارسی)-

بر:(بر)لاحقه- یوه لاحقه چې "وړونکے" معنٰی لری لکه دلبر- زړۀ وړونکے- (م- فارسی)-

بر:(بر)اسم- واحد- مذکر- پسور- سور- عرض- پلنوالے-

بر:(بر)اسم- واحد- مذکر- دا توری د لفظ "برکت" سره یو ځائ راځی- لکه برونرکت-

بر:(بر)اسم- واحد- مذکر- د نبتر پاښې-

بر:(بر)کلمه- جر- د تضحیک کلمه-

برابر:(بِه‌ـرا‌ـبر)اسم صفت- مذکر- مساوی- یو شان- پوره- سر په سر- موافق- په طبع نژدې- څنګ- په څنګ- نیغ- مؤنث برابره- جمع مؤنث برابرې-

برابرتوب:(بِه‌ـرا‌ـبر‌ـتوب)اسم- مذکر- د برابر کېدو حالت- سمون- سموالے- برابرتیا- سمښت- برابرښت- برابروالے-

برابرتیا:(بِه‌ـرا‌ـبر‌ـتیا)اسم- وګورئ برابرتوب-

برابرښت:(بِه‌ـرا‌ـبِه‌ـرښت)اسم- وګورئ برابرتوب-

برابروالے:(بِه‌ـرا‌ـبر‌ـوالے)اسم- وګورئ برابرتوب-

برابرول:(بِه‌ـرا‌ـبِه‌ـر‌ـول)مصدر متعدی- (۱)یو شان کول- پوره کول- موافق کول- تیارول- سمول- (۲)نیغول- سیخول- (۳)یو مسح کول- اوارول- (۴)چمتو کول- (۵)وهل- سزا ورکول- غول- وطی کول-

برابرولے:(بِه‌ـرا‌ـبِه‌ـر‌ـو‌ـلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع برابرولی- مؤنث برابرولې- وګورئ برابرول-

برابرون:(بِه‌ـرا‌ـبِه‌ـر‌ـون)حاصل مصدر- وګورئ برابرول-

برابرونکے:(بِه‌ـرا‌ـبِه‌ـر‌ـون‌ـکے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع برابرونکی- مؤنث برابرونکې- وګورئ برابرول-

برابرونګ:(بِه‌ـرا‌ـبِه‌ـر‌ـونګ)حاصل مصدر- وګورئ برابرول-

برابرونه:(بِه‌ـرا‌ـبِه‌ـر‌ـو‌ـنه)حاصل مصدر- وګورئ برابرول-

برابروۀ:(بِه‌ـرا‌ـبِه‌ـر‌ـوۀ)حاصل مصدر- وګورئ برابرول-

برابری:(بِه‌ـرا‌ـبِه‌ـری)اسم- مساوات- جوړښت- اتفاق- برابرښت- سمون- سموالے- یو شان والے-

برابرېدل:(بِه‌ـرا‌ـبِه‌ـرې‌ـدل)مصدر لازم- د برابر نه لازمی مصدر- (۱)سمېدل- تیارېدل- موافق کېدل- جوړېدل- پوره کېدل- (۲)سیخېدل- نیغېدل- (۳)اوارېدل- (۴)مساوی کېدل- (۵)وطی کېدل- غولے کېدل-

برابرېدلے:(بِه‌ـرا‌ـبِه‌ـرې‌ـدلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع برابرېدلی- مؤنث برابرېدلې- وګورئ برابرېدل-

برابرېدن:(بِه‌ـرا‌ـبِه‌ـرې‌ـدن)حاصل مصدر- وګورئ برابرېدل-

برابرېدنګ:(بِه‌ـرا‌ـبِه‌ـرې‌ـدنګ)حاصل مصدر- وګورئ برابرېدل-

برابرېدنه:(بِه‌ـرا‌ـبِه‌ـرې‌ـدنه)حاصل مصدر- وګورئ برابرېدل-

برابرېدونکے:(بِه‌ـرا‌ـبِه‌ـرې‌ـدون‌ـکے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع برابرېدونکی- مؤنث برابرېدونکې- وګورئ برابرېدل-

برابرېدۀ:(بِه‌ـرا‌ـبِه‌ـرې‌ـدۀ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ برابرېدل-

برابرے:(بِه‌ـرا‌ـبِه‌ـرے)اسم- وګورئ برابرتوب-

برابلوالے:(بَرا‌ـبَله‌ـوالے)اسم- وګورئ بلاربوالے-

برابلول:(بَرا‌ـبَله‌ـول)مصدر متعدی- برالمول- بلاربول- حامله کول-

برابلولے:(بَرا‌ـبَله‌ـو‌ـلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع برابلولی- مؤنث برابلولې- وګورئ برابلول-

برابلون:(بَرا‌ـبَله‌ـون)حاصل مصدر- وګورئ برابلول-

برابلونکے:(بَرا‌ـبَله‌ـون‌ـکے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع برابلونکی- مؤنث برابلونکې- وګورئ برابلول-

برابلونګ:(بَرا‌ـبَله‌ـونګ)حاصل مصدر- وګورئ برابلول-

برابلونه:(بَرا‌ـبَله‌ـو‌ـنه)حاصل مصدر- وګورئ برابلول-

برابلوۀ:(بَرا‌ـبَله‌ـوۀ)حاصل مصدر- وګورئ برابلول-

برابله:(بَرا‌ـبَله)اسم صفت- واحد- مؤنث بلاربه- حامله امېدواره- جمع برابلې-

برابلېدل:(بَراب-لې-دل)مصدر لازم- ملاربېدل- حامله کېدل- تېربدل-
برابلېدلے:(بَرابـلې-دَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع برابلېدلی- مؤنث برابلېدلې- وګورئ برابلېدل-
برابلېدن:(براب-لې-دن)حاصل مصدر- وګورئ برابلېدل-
برابلېدنګ:(بَراب-لې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ برابلېدل-
برابلېدنه:(بَراب-لې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ برابلېدل-
برابلېدونکے:(براب-لې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع برابلېدونکی- مؤنث برابلېدونکې- وګورئ برابلېدل-
برابلېدهٔ:(بَراب-لې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ برابلېدل-
برات:(بـه-رات)اسم- واحد- مذکر- (۱)د شوقدر میاشت- رسول میاشت- (۲)حصه- برخه- ونډه- (۳)چېک- هغه کاغذ چې د خزانې نه وربانلدی پېسې اخستلے شي- هُنډی- (۴)د قرآن کریم یو سورت-
براخه:(بْرا-خه)اسم- واحد- مؤنث- عواخه- دَ اوښانو او غټو ښکرورو ځاروژ کوني- یو قسم خرنده چې د اوښانو، غوایانو او نورو ځاروژ په پوټکی پورې نښتې وی- جمع براخې-
برادری:(ب-را-د-ری)اسم- واحد- مؤنث- (۱)روروولي- (۲)تام ولي- عزیز ولي- (۳)اشنائي- دوستي- یارانه- جمع برادری-
بُراده:(بُـرا-ده)اسم- واحد- مؤنث- دَ لرګی یا اُسپنې چوره یا بوره- (م- فارسی)-
برار:(ب-رارْ)اسم- (۱)وده- نشو نما- (۲)- اسم صوت(پرپر- ترتر- برار-
براعظم:(بر-ر-اع-ظم)اسم- واحد- مذکر- د جغرافیه په اصطلاح کښې د خشکۍ لویه حصه چې پکښې څو ملکونه وی- اصل معنی لویه وچه- (م- بر- فارسی- اعظم- عربی)-
براق:(بُـراق)اسم- (۱)هغه سپین اس چې رسول کریم صلی الله علیه و آله وسلم پرې معراج ته تشریف وړے وهٔ (۲)اصل معنٰی سپین پرقیدونکے څیز- (۳)دَ لوئ اختر دَ قربانۍ څناور- (م- عربی)-
برالا:(بُـرا-لا)متعلق فعل'صفت- په جاره په ښکاره- په څرګنده- په ډاګه-
برالبول:(بَرال-به-ول)مصدر متعدی- حامله کول- بلاربول- براملول-
برالبولے:(بَرال-به-وَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع برالبولی- مؤنث برالبولې- وګورئ برالبول-
برالبون:(برال-به-وَن)حاصل مصدر- وګورئ برالبول-
برالبونګ:(برال-به-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ برالبول-
برالبونه:(برال-به-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ برالبول-
برالبونکے:(برال-به-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع برالبونکی- مؤنث برالبونکې- وګورئ برالبول-
برالبه:(برال-به)اسم صفت- واحد- مؤنث- امېدواره- حمل لرونکې- بلاربه- جمع مؤنث برالبې-
برالبېدل:(برال-بې-دل)مصدر لازم- بلاربېدل- امېدواربدل- برابلېدل-
برالبېدلے:(برال-بې-دَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع برالبېدلی- مؤنث برالبېدلې- وګورئ برالبېدل-
برالبېدن:(برال-بې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ برالبېدل-
برالبېدنګ:(برال-بې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ برالبېدل-
برالبېدنه:(برال-بې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ برالبېدل-
برالبېدونکے:(برال-بې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع برالبېدونکی- مؤنث برالبېدونکې- وګورئ برالبېدل-
برالبېدهٔ:(برال-بې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ برالبېدل-
براله:(بـرا-له)اسم- واحد- مؤنث- د غلې خُم- کندو- ایکونه- کولے- د حاررو کندو-
برامته:(ب-رام-ته)اسم- مؤنث- برمته- د قرضې یا تاوان په بدل په یرغمال کښې اخستے څیز یا کس-
برامد:(بر-آمد)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه تجارتی څیزونه چې له یوهٔ ملکه بهر لیږلے شي- (۲)هغه زمکه چې د سیند د غرځېدلو په وجه رازړی- (۳)د یو څیز څرګندېدنه یا راوتنه- (۴)د خوشامد تابع مهمل- (۵)تنقید (خوشحال بابا)-
برامده:(بـه-رام-ده)اسم- واحد- مؤنث- برنډه- برانده- منډاؤ- دالان-
برانچ:(بْرانچ)اسم- واحد- مذکر- ښاخ- څانګه- دَ یو تنظیم وړه حصه- جمع برانچونه- (م- انګریزی)-
براندی:(بران-دی)اسم- جمع- مؤنث- باندری- راندری- د روهٔ رګونه-
برانړه:(بـه-رانْ-ړه)اسم- مؤنث- براړه- کربغه- رمباړه- کریکه- کړیکه- په چغو چغو ژړونه یا ژړا- د خر اوازْ- جمع برانړی-
براړه:(بـه-راړ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- برنډه- دالان- برآمده- جمع براړی-
براسری:(بـه-رال-ری)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د شرابو یو قسم- (۲)لوی کوټ- (م- انګریزی)-
برازده:(بْراو-ږه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ترقه تپقاله- (۲)غټې غټې خبری کومه- د خان ستائینه- د خان صفت کونه- لاپې شاپې- جمع برازږی-
برایني:(بـه-را-یني)اسم- مؤنث- وګورئ برایه-- د تېرې شپې- بېګانے- ژبګانے-
برایبے:(بـه-رایني-يے)اسم صفت- مذکر- د تېرې شپې- بېګانے-
برایه:(ب-را-یه)اسم- تېره شپه- بېګاني شپه- بېګا- براینې- برانې-
براني:(بـه-راني)اسم- وګورئ برایه-
برباد:(بر-باد)اسم صفت- د باد ضد- تباه- بربات- ضائع- عبث- خرابه- مؤنث بربادهٔ- جمع مؤنث بربادې- (م- فارسی)-
بربادتوب:(بر-باد-توب)اسم- دَ بربادکېدو حالت- خرابوالے- بربادتیا- زمحاریوب-
بربادتیا:(بر-باد-تیا)اسم- وګورئ بربادتوب-
بربادوالے:(بر-باد-والے)اسم- وګورئ بربادتوب-

"ی" (څې-رل)، "ې"(مې-ره-ول)، "ئ"(بیا-لی)، "ئ"(تن-دې) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www pukhto net

برباد ول:(بر-با-ده-ول)مصدر متعدي- ضائع کول- تباه کول- ختمول- عبث کول- ویجاړول- خرابول-

برباد ولی (بر-با-د-وَلی)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع برباد ولي- مؤنث برباده ولې- وګورئ بربادول-

بربادونکی:(بر-با-د-وون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع بربادونکي- مؤنث بربادونکې- وګورئ بربادول-

بربادونګ:(بر-با-د-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ بربادول-

بربادونه:(بر-با-د-ونه)حاصل مصدر- وګورئ بربادول-

بربادوۀ:(بر-با-د-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ بربادول-

بربادي:(بر-با-دي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)تباهي- خرابي- زیان- تاوان- نقصان- (۲- صفت)فضول خرڅه- تاواني-

بربادي:(بر-با-دي)اسم- جمع- مؤنث- (۱)بیوچه وینا او کاروونه- عبث خبرې او کاروونه- فضول خبرې او کاروونه حشي خبري او کاروونه- (۲)عام طور سره نشي تماشي-

بربادېدل:(بر-با-دي-دل)مصدر لازم- تباه کېدل- عبث کېدل- ویجاړېدل- زیانېدل-

بربادېدن:(بر-با-دي-دن)حاصل مصدر- وګورئ بربادېدل-

بربادېدنګ:(بر-با-دي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ بربادېدل-

بربادېدنه:(بر-با-دي-دنه)حاصل مصدر- وګورئ بربادېدل-

بربادېدونکی:(بر-با-دي-دون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع بربادېدونکي- مؤنث بربادېدونکې- وګورئ بربادېدل-

بربادېدۀ (بر-با-دي-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ بربادېدل-

بربت:(بر-بت)اسم- کبر- لوئي- غرور- فخر- وياړ- تکبر-

بربتی:(بر-بت-تی)اسم صفت- واحد- مذکر- مغرور- تکبر کبرژن- کلانکار- مؤنث بربتۍ- جمع مؤنث بربتې-

بربتي:(بر-بت-تي)اسم- واحد جمع- مؤنث- سره ناوې- د کوکتي یو قسم- سره بخملي- سور رنګې بخملي چینجي چې د انار د ګل په شان رنګ لري-

بربر:(بر-بر)اسم صوت- واحد- مذکر- د اور د لمبې اواز-

بربر:(بر-بر)اسم- (۱)غالب- چر- چرچر- (۲)د ماشومانو یوه لوبه-

برېرک:(بر-بو-رک)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه زخ وابنۀ چې ژر اور اخلي او لۀ سوزېدو نه پس یې سکارۀ نۀ پاتې کېږي- (۲)تار تار- دانه دانه- پرېشانه- خور وور-

بربریت:(بر-به-ري-یت)اسم- وحشت- ظلم- زور زیاتے- (م- عربي)-

بربري:(بر-به-ري)اسم- واحد جمع- مؤنث- د بزو یو قسم چې دېر پۍ کوي- پیوره- (۲)د غوا ګانو یو قسم چې دېر پۍ کوي- (۲)پیوره-

بربرے:(بر-به-رے)اسم- واحد- مذکر- (۱)علم نشان- بیرغ- جنډه- (۲)تېزه تنده هوا- جمع بربري-

بربرے:(بر-به-رے)اسم- واحد- مذکر- (۱)یو مرض چې پکښې ویښه نه وربېږي- (۲)د اطلی پانه یا داسې قسم نوري پاڼې-

بربرے:(بر-بر-رے)اسم- واحد- مذکر- هغه خشاک- خس یا د ونو وچې پاڼې چې ژر اور اخلي-

برېړو:(بر-ي-ړو)اسم صفت- مذکر- بیراوبن- مست او بربړېدونکے اوبۀ چې لوی وبښتۀ ی وی- بربرے-

بربړوک:(بر-به-ړوک)اسم- واحد- مذکر- خروبے- اشار- شرشره- ابشار- شرشره-

بربزه:(بر-به-زه)اسم- واحد- مؤنث- د غرچ پره- جمع بربزې-

بربس:(بر-بس)اسم- واحد- مذکر- (۱)بربست- دود- دستور- رواج- (۲)شتۀ- دولت- طاقت- شان- اقبال- (۳)بربس- د کور سامان- (۴)د اس غاړکی چې د جنګ د پاره د بوتلو په موقع ورته اچولے شي (افغانستان)-

برست:(بر-ست)اسم- واحد- مذکر- وګورئ بربس- جمع برستونه-

بربط:(بر-بط)اسم- واحد- مذکر- د بطې د سینې په شان دري ګټیزه د موسیقی یوه آله چې عربي کښې ورته عود وائي- (م- فارسي)-

برمک:(بر-بک)اسم- واحد- مذکر- داتوره- داتوره- لتوره- پانګتوره- یو زهر ژن بوټے- نباتاتي نوم کونیم مکیو لیتم (CONIUM MACULATUM) پېتورا میتل (DATURA METEL)-

بربنډ:(بر-بنډ)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- لوڅ- لغړ- برمنډ- لنډغر- لنډلغر- لۀ ضروري سامانه محروم- بې حیا- بې شرمه- مؤنث بربنډه- جمع مؤنث بربنډې-

بربنډتوب:(بر-بنډ-توب)اسم- بربنډېدو حالت- لوڅتوب- لغړتوب- لغړوالے- بربنډوالے-

بربنډتیا:(بر-بنډ-تیا)اسم- د بربنډېدو حالت- وګورئ بربنډتوب-

بربنډلغړ:(بر-بنډ-له-غړ)اسم صفت- واحد- مذکر- لوڅ- مؤنث بربنډه لغړه- جمع مؤنث بربنډې لغړې-

بربنډوالے:(بر-بنډ-وا-لے)اسم- وګورئ بربنډتوب-

بربنډول:(بر-بن-ډ-ول)مصدر متعدي- (۱)برمنډول- لغړول- لوڅول- لۀ جانه جامې اېستل- (۲)شرمول- (۳)پټ راز څرګندول-

بربنډولے:(بر-بن-ډ-وَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع بربنډولي- مؤنث بربنډولې- وګورئ بربنډول-

بربنډون:(بر-بن-ډ-ون)حاصل مصدر- وګورئ بربنډول-

بربنډونکے:(بر-بن-ډ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع بربنډونکي- مؤنث بربنډونکې- وګورئ بربنډول-

بربنډونګ:(بر-بن-ډ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ بربنډول-

بربنډونه:(بر-بن-ډ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ بربنډول-

بربنډوۀ:(بر-بن-ډ-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ بربنډول-

زبر"(ح-یف-ره)، زورکے"(شل)، پېش (مو-کا-ره)، زېر (ک-ساب)، جزم"(شکوې) ه(ر-ره)، ۀ(ږو-مي دۀ)

www.pukhto.net

بربنډېدل:(بَر-بن-ډې-دَل)مصدر لازم- (۱)بربنډېدل- لوڅېدل- لغړېدل- (۲)بې عزته کېدل- (۳)خوارېدل-

بربنډېدلے:(بَر-بن-ډې-دَ-لے)اسم مفعول- جمع بربنډېدلي- مؤنث بربنډېدلې- وګورئ بربنډېدل-

بربنډېدن:(بَر-بن-ډې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ بربنډېدل-

بربنډېدنګ:(بَر-بن-ډې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ بربنډېدل-

بربنډېدنه:(بَر-بن-ډې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ بربنډېدل-

بربنډېدونکے:(بَر-بن-ډې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع بربنډېدونکي- مؤنث بربنډېدونکې- وګورئ بربنډېدل-

بربنډېدهٔ:(بَر-بن-ډې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ بربنډېدل-

بربو:(بَر-بُو)اسم- واحد- مذکر- دَ خړ رنګ يو قسم بوټے- بابېرک- جمع بربوګان-

بربوټانے:(بَر-بُو-ټا-نے)اسم- واحد- مؤنث- خادمي- يوه زړه شان ګمګره چې شګو کښې وي-

بربوټه:(بَر-بُو-ټه)اسم- واحد- مؤنث- ورې پاڼې لرونکے يو غټ بوټے-

بربوټے:(بَر-بو-ټے)اسم- واحد- مذکر- زوړل- زوال- زوړل- يو قسم مشهور واښهٔ چې تراخهٔ هم وي او دَ دوائي په طور استعمالېږي-

بربوړکي:(بَر-بو-ړکي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- بربوکي- بوربوړکي- بربکي- بربوزه- بربکي-

بربوزګ:(بَر-بُو-زګ)اسم- واحد- مذکر- پيازکے- غرنيز پياز- نباتاتي نوم ارجنيا انډيکا URGINA INDICA-

بربي:(بَر-بي)اسم صفت- دَ بهارې او زړهٔ ورتيا لهٔ کبله مست-

برت:(بَرت)اسم صوت- د تېز اواز- د هوا د خارجېدو اواز-

برتن:(بَرو-تَن)اسم صفت- دَ برت نه اسم صفت- وېرپېدونکے- تړن- ترټن- پړن- برتو- تړو- کرتو- فضول خبري کونکے- مؤنث برتنه-

برتنه:(بَر-تَ-نه)اسم صفت- واحد- مؤنث- دَ برتن مؤنث- وګورئ برتن-

برتو:(بره-تَو)اسم صفت- وګورئ برتن-

برته:(بر-ته)حرف- بېرته- اخوا- لرې-

برته:(بَر-ته)اسم- واحد- مؤنث- په اور کښې دَ وريتو شوو تورېو پاڼېنګو پخکوړے چې عام طور سره پکښې ماستهٔ اچولے شي- برته-

برتي:(بَر-تي)اسم- واحد/جمع- مذکر- د فوځ، پوليس يا بل کوم ملازمت په رجسټر کښې نوم ليکنه- (کول/کېدل- مصدرونه)- (م- هندي بهرتي)-

برتي:(بَر-تي)اسم صفت- هغه څيز چې د خاڼې پکولو دَ پاره استعمال شوے وي- ناپکاره- بې کاره- ټانکه (کول/کېدل مصدرونه)- (م- هندي)-

برټ:(بَرټ)اسم- واحد- مذکر- ټانکه- پېوند- جوکه- (افغانستان)-

برټ:(بَرټ)اسم- واحد- مذکر- د سيکې او تامبې يو مرکب چې مسين او نور لوښي پرې پېوندولے شي- د تبېرې د ټانکه کولو دارو-

برټش:(بَر-ټِش)اسم- واحد- مذکر- دَ برطانيې وسېدونکے- برطانوي- انګرېز- پېرنګے-

برج:(بَرج)اسم- واحد- مذکر- د تاش يوه لوبه- (م- انګرېزي)-

برج:(بُرج)اسم- واحد- مذکر- (۱)ټپاری- اټاری- قلا- مورچه- ټاپو- برجل- تېهور (۲)دَ کوټې دَ پاسه هغه چار دېوالي چې دَ جنګ دوران کښې دَ مورچې کار کوي- جمع برجونه- (ش- فارسي)-

برج:(بـ-رج)اسم- واحد- مذکر- دَ يوې ونې دَ نازک پوټ نامه چې اکثر به د ليکلو د پاره استعمالېدهٔ-

برج:(بُرج)اسم- واحد- مذکر- دَ تقويم دَ علم لهٔ رويه دَ اسمان هغه دولسمه حصه چې نمر پکښې يو مياشت وي-

برج:(بَرج)اسم صفت- دلابرج مخفف- دوش- بې غېرته-

برجاز:(بَر-جاز)اسم صفت- واحد- مذکر- پلے- برجک- معمور- برجق- سېخلے- سرمورے-

برجازتوب:(بَر-جاز-توب)اسم- مذکر- پکوالے- برجکوالے- سېخ والے-

برجاوول:(بَر-جا-وَ-وَل)مصدر متعدي- پور معمور کول- پکول- پورکول- سېخول-

برجاوولے:(بَر-جا-وَ-وَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع برجاوولي- مؤنث برجاوولې- وګورئ برجاوول-

برجاوون:(بَر-جا-وَ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ برجاوول-

برجاوونکے:(بَر-جا-وَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع برجاوونکي- مؤنث برجاوونکې- وګورئ برجاوول-

برجاوونګ:(بَر-جا-وَ-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ برجاوول-

برجاوونه:(بَر-جا-وَ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ برجاوول-

برجاووهٔ:(بَر-جا-و-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ برجاوول-

برجاوېدل:(بَر-جا-وې-دل)مصدر لازم- پور معمور کېدل- پکېدل- پور کېدل- سېخېدل-

برجاوېدلے:(بَر-جا-وې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع برجاوېدلي- مؤنث برجاوېدلې- وګورئ برجاوېدل-

برجاوېدن:(بَر-جا-وې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ برجاوېدل-

برجاوېدنګ:(بَر-جا-وې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ برجاوېدل-

برجاوېدنه:(بَر-جا-وې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ برجاوېدل-

برجاوېدونکے:(بَر-جا-وې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع برجاوېدونکي- مؤنث برجاوېدونکې- وګورئ برجاوېدل-

برجاوېدهٔ:(بَر-جا-وې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ برجاوېدل-

برجتو:(بر-جه-تَو)اسم صفت- واحد- مذکر- فسادي سړے- وران کارے- علتي- شدتي- دوه کسه جنګونکے-

برجد:(بَر-جَد)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ مجد-

ئ (شي-ول)، ي (مې-ره-ول)، ې (پېا-لې)، ے (تن-ده-ے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

برجس:(بَر-جِس)اسم- واحد- مذکر- یو تنګ او چُست پتلون چې د سورلۍ په وخت اچولے شي- بربچز- (م- انګریزي)-

برجستګي:(بَر-جِس-تهٔ-ګي)اسم- مؤنث- چُستي- بې ساختګي- في البديهه کېدنه- د موقعې په مناسبت کېدنه- (م- فارسي)-

برجسته:(بَر-جَس-تهٔ)صفت- چُست- سم- بې ساخته- في البديهه- (م- فارسي)-

برجغ:(بر-جَغ)اسم صفت- مذکر- برجق- انجاغړی- اېکامانه ړک- ړک پک- کښېمنولے- تر ګوکو ګوکو ړک- تر خلې خلې ړک-

برجغول:(بَر-جهٔ-غهٔ-وَل)مصدر متعدي- اېکامانه ړکول- کښېمنول- تر ګوکو ګوکو ړکول-

برجغولے:(بَر-جهٔ-غهٔ-وهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع برجغولي- مؤنث برجغولې- وګورئ برجغول-

برجغون:(بَر-جهٔ-غهٔ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ برجغول-

برجغونکے:(بَر-جهٔ-غهٔ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع برجغونکي- مؤنث برجغونکې- وګورئ برجغول-

برجغونه:(بر-جهٔ-غهٔ-وهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ برجغول-

برجغه:(بر-جهٔ-غه)اسم صفت- واحد- مؤنث وګورئ برجغ-

برجغېدل:(بَر-جهٔ-غې-دل)مصدر لازم- برجقېدل- اېکامانه ړکېدل- تر ګوکو ګوکو ړکېدل-

برجغېدلے:(بَر-جهٔ-غې-دهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع برجغېدلي- مؤنث برجغېدلې- وګورئ برجغېدل-

برجغېدن:(بَر-جهٔ-غې-دن)حاصل مصدر- وګورئ برجغېدل-

برجغېدنګ:(بَر-جهٔ-غې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ برجغېدل-

برجغېدنه:(بَر-جهٔ-غې-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ برجغېدل-

برجغېدونکے:(بَر-جهٔ-غې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع برجغېدونکي- مؤنث برجغېدونکې- وګورئ برجغېدل-

برجغېدهٔ:(بَر-جهٔ-غې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ برجغېدل-

برجق:(بَر-جق)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ برجاژ/برچک-

برجک:(بر-جَک)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ برجاژ/برچک-

برجکه:(بر-جهٔ-که)اسم صفت- واحد- مؤنث- د برجک مؤنث- وګورئ برچک-

بُرجل:(بُر-جَل)اسم- واحد- مذکر- (۱)دُرشل- (۲)ګور- (۳)چوکاټ- جمع برجلونه- (غالباً) د بورمل سره تعلق لرونکے)-

برجو:(بر-جو)اسم- واحد- مؤنث- پسان- برچي- د چاقوانو چړو تېرولو کاڼے- برجو کاڼے- پېلو- باټه- نوزے- (۲)بارخو- اننګے- (۳)د مثانې کاڼے-

برجي:(بر-جي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ برجو-

برجي:(بُر-جي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- حدبندي- برید- هغه د خټو یا کاڼو بوټکے چې د حدبندۍ د پاره استعمالېږي-

برخ:(بَرَخ)اسم- واحد- مذکر- برخه- ښاړو- د نس پرده- غوړ- د ګېډې پرده- پلین-

برخوړے:(بر-خو-ړے)اسم- د کور د چت هغه ځه چې د پرنالې یا ترې کار ترې اخستے شي-

برچک:(بر-چَک)اسم صفت- مذکر- برجک- برجق- ډېر ړک- سیخ په سیخ-

برچکے:(بر-چهٔ-کے)اسم- واحد- مذکر- بچکړکے- د کوړکې پړکې- لښ یا د کبانو د ګنډو سکنجه کړکے- هغه وړوکے ړکے چې د لښ په سر کښې د سورۍ سره نښلولے شي-

برچکے:(بُر-چهٔ-کے)اسم- واحد- مذکر- پېړے- د تارونو هغه بند چې جینکۍ پرې وېښتهٔ سمبالوي- جمع برچکي-

برچه:(بر-چه)اسم- واحد- مؤنث- نېزه- بلمه- بلم- د اُسپنې یوه وړه وسله چې تېره څوکه لري- جمع برچې- (م- هندي)-

برچي:(بر-چي)اسم- وګورئ برجي-

برخوړي:(بُر-خو-ړي)اسم- جمع- مذکر- د اړی بوره- بوره- د لرګي هغه بوره چې د لرګي ګېرلو وخت کښې راوځي-

برخېرن:(بر-خې-رن)اسم صفت- (۱)ږېره- برخبره- د سر د پاسه- سرسري- (۲)خطا- غلط شوے- معمولي- (۳)کاواکه- (۴)د "رسا" ضد-

برخېرول:(بَر-خې-رَ-وَل)مصدر متعدي- ګرکندول- جوتول- ښکاره کول-

برخېرولے:(بَر-خې-رَ-وهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع برخېرولي- مؤنث برخېرولې- وګورئ برخېرول-

برخېرون:(بَر-خې-رَ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ برخېرول-

برخېرونکے:(بَر-خې-رَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع برخېرونکي- مؤنث برخېرونکې- وګورئ برخېرول-

برخېرونګ:(بَر-خې-رَ-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ برخېرول-

برخېرونه:(بر-خې-رَ-وهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ برخېرول-

برخېروهٔ:(بَر-خې-رَ-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ برخېرول-

برخېره:(بر-خې-ره)اسم صفت- ګرکند- ښکاره- جوت-

برحال:(بَر-حال)اسم صفت- په خپل حال- په خپل ځاي- موجود- په کار ولاړ- (م- فارسي)-

برحالول:(بَر-حا-لهٔ-وَل)مصدر متعدي- په خپل ځاي کول- بحال کول- بې ځایه شوے کس په ځاي کول- واپس کول- په خپل ځاي پاتې کول-

برحالولے:(بَر-حا-لهٔ-وهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع برحالولي- مؤنث برحالولې- وګورئ برحالول-

برحالون:(بَر-حا-لهٔ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ برحالول-

برحالونکے:(بَر-حا-لهٔ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع برحالونکي- مؤنث برحالونکې- وګورئ برحالول-

برحالونګ:(بَر-حا-لهٔ-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ برحالول-

برحالونه:(بَر-حا-لـه-وَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ برحالول-

برحالوهٔ:(بر-حا-لـه-وهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ برحالول-

برحالېدل:(بَر-حا-لې-دَل)مصدرِ لازم- پهٔ ځاي کېدل- بحال کېدل- بې ځايه شوي کَس پهٔ خپل ځاي کېدل- واپس کېدل- پهٔ خپل ځاي پاتې کېدل- پهٔ هوش کښې راتلل-

برحالېدلے:(بَر-حا-لې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع برحالېدلي- مؤنث برحالېدلې- وګورئ برحالېدل-

برحالېدن:(بَر-حا-لې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ برحالېدل-

برحالېدنګ:(بَر-حا-لې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ برحالېدل-

برحالېدنه:(بر-حا-لې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ برحالېدل-

برحالېدونکے:(بَر-حا-لې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع برحالېدونکي- مؤنث برحالېدونکې- وګورئ برحالېدل-

برحالېدهٔ (بَر-حا-لې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دٔ ماضي استمراري دٔ واحد غائب صيغه- وګورئ برحالېدل-

برحق:(بَر-حَق)صفت- پهٔ حقه- حق بجانب-

برخاست (بر-خاست)اسم- (۱)ختمېدنه- بندېدنه- (۲)دٔ کار نه لرې کونه- (۳)پاسېدنه- وچتېدنه-

برخاستول:(بَر-خاس-تـه-ول)مصدرِ متعدي- (۱)ختمول- بندول- دٔ کار يا ملازمت نه لرې کول- (۲)پاڅول- وچتول- (م- فارسي)-

برخاستولے:(بَر-خاس-تـه-وَ-لے) اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع برخاستولي- مؤنث برخاستولې- وګورئ برخاستول-

برخاستون:(بَر-خاس-تـه-وُن)حاصلِ مصدر- وګورئ برخاستول-

برخاستونکے:(بَر-خاس-تـه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع برخاستونکي- مؤنث برخاستونکې- وګورئ برخاستول-

برخاستونګ:(بَر-خاس-تـه-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ برخاستول-

برخاستونه:(بر-خاس-تـه-وَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ برخاستول-

برخاستوهٔ:(بر-خاس-تـه-وهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ برخاستول-

برخاستېدل:(بَر-خاس-تې-دل)مصدر لازم- (۱)ختمېدل- بندېدل- دٔ کار يا ملازمت نه لرې کېدل- (۲)پاڅېدل- وچتېدل-

برخاستېدلے:(بَر-خاس-تې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع برخاستېدلي- مؤنث برخاستېدلې- وګورئ برخاستېدل-

برخاستېدن:(بر-خاس-تې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ برخاستېدل-

برخاستېدنګ:(بر-خاس-تې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ برخاستېدل-

برخاستېدنه:(بر-خاس-تې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ برخاستېدل-

برخاستېدونکے:(بَر-خاس-تې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع برخاستېدونکي- مؤنث برخاستېدونکې- وګورئ برخاستېدل-

برخاستېدهٔ:(بَر-خاس-تې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دٔ ماضي استمراري دٔ واحد غائب صيغه- وګورئ برخاستېدل-

برخلاف:(بر-خ-لاف)صفت- مذکر- (۱)پهٔ خلاف- پهٔ ضد- وران- پهٔ مخالفت کښې- (۲)دښمن-

برخلافت:(بر-خ-لا-فت)اسم- دٔ برخلاف کېدو حالت- دُښمني- مخالفت- برخلافي- زړهٔ بدي-

برخلافول:(بَر-خ-لا-فـه-وَل)مصدرِ متعدي- دښمنول- برخلافه کول- مخالفول- سره ورانول-

برخلافولے:(بَر-خ-لا-فـه-وَ-لے)اسمِ مفعول- واحد- مذکر- جمع برخلافولي- مؤنث برخلافولې- وګورئ برخلافول-

برخلافون:(بَر-خ-لا-فـه-وُن)حاصلِ مصدر- وګورئ برخلافول-

برخلافونکے:(بَر-خ-لا-فـه-وون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع برخلافونکي- مؤنث برخلافونکې- وګورئ برخلافول-

برخلافونګ:(بَر-خ-لا-فـه-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ برخلافول-

برخلافونه:(بَر-خ-لا-فـه-وَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ برخلافول-

برخلافوهٔ:(بر-خ-لا-فـه-وهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ برخلافول-

برخلافي:(بر-خ-لا-في)اسم- واحد- مؤنث- دٔ برخلاف کېدو حالت- برخلافت- دښمني-

برخلافېدل:(بَر-خ-لا-فې-دَل)مصدرِ لازم- دښمن جوړېدل- سره ورانېدل-

برخلافېدلے:(بَر-خ-لا-فې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع برخلافېدلي- مؤنث برخلافېدلې- وګورئ برخلافېدل-

برخلافېدن:(بَر-خ-لا-فې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ برخلافېدل-

برخلافېدنګ:(بر-خ-لا-فې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ برخلافېدل-

برخلافېدنه:(بر-خ-لا-فې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ برخلافېدل-

برخلافېدونکے:(بَر-خ-لا-فې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع برخلافېدونکي- مؤنث برخلافېدونکې- وګورئ برخلافېدل-

برخلافېدهٔ:(بَر-خ-لا-فې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دٔ ماضي استمراري دٔ واحد غائب صيغه- وګورئ برخلافېدل-

برخو:(بَر-خو)اسم- وګورئ بارخو- جمع برخوګانې-

برخوبرخو:(بَر-خو-بَر-خو)اسم صفت- بخرې بخرې- برخې- برخې- حصې حصې-

برخوردار:(بَر-خَر-دار)اسم- واحد- مذکر- (۱)زوئ- بچے- (۲)هر ماشوم ته دٔ مينې دٔ غېږ توري- (۳- صفت)نېک مرغه- خوش بخته- طالع مند- (۴)تابعدار- فرمان بردار- اصل معنٰی "مېوه خوړونکے"- (م- فارسي)-

برخورداري:(بَر-خَر-دا-ري)اسم- دٔ برخوردار کېدو حالت- فرمانبرداري- تابعداري-

برخه:(بر-خه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)حصه- بخره- دٔ زمکې يوه ټوټه چې عام طور سره شپږ جريبه وي- (۲)قسمت- (۳)بزرګي-

برخه خور:(بَر-خه-خور)اسم- واحد- مذکر- مزارع- کروندګر- پهٔ حصه زمکه لرونکے- حصه خوړونکے- شريکوال- شراکتي-

www.pukhto.net

برخه من:(بَر-خه-مَن)اسم صفت- بهره مند- برخه لرونکے-

برخه ور:(بَر-خه-وَر)اسم صفت- شراکتي- ګډ-

برخېز:(بر-خه-ايز)اسم صفت- واحد- مذکر- پهٔ حصه کښې شريک- حصه دار-

بردار:(بَر-دار)دَ لاحقې کلمه چې دَ وچتونکي معنی لري لکه باربردار (بار وچتونکے)- فرمان بردار (فرمان وچتونکے)-

برداشت:(بَر-داشت)اسم- (۱)زغم- ضبط- تحمل- (۲)وچتونه- (خاص طور سره دَ فصل)- (۳)اجابت- (م- فارسي)-

بردبار:(بُرد-بار)اسم صفت- صابر- زغم کوونکے- برداشت کونکے- (م- فارسي)-

بردباري:(بُرد-با-ري)اسم- واحد- مؤنث- زغم- صبر- تحمّل- برداشت-

بردم:(بَر-دَم)اسم صفت- پک- پړسېدلے- تر غړي غړي پک- تر سره سره پک-

بردمول:(بَر-دَه-مه-وَل)مصدر متعدي- پکول- پړسول-

بردمولے:(بَر-دَه-مه-وَه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع بردمولي- مؤنث بردمولې- وګورئ بردمول-

بردمون:(بَر-دَه-مه-وَن)حاصل مصدر- وګورئ بردمول-

بردمونکے:(بَر-دَه-مه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع بردمونکي- مؤنث بردمونکې- وګورئ بردمول-

بردمونګ:(بَر-دَه-مه-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ بردمول-

بردمونه:(بَر-دَه-مه-وَه-نه)حاصل مصدر- وګورئ بردمول-

بردمېدل:(بَر-دَه-مې-دَل)مصدر لازم- پړسېدل- پکېدل-

بردمېدلے:(بَر-دَه-مې-دَه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع بردمېدلي- مؤنث بردمېدلې- وګورئ بردمېدل-

بردمېدن:(بَر-دَه-مې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ بردمېدل-

بردمېدنګ:(بَر-دَه-مې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ بردمېدل-

بردمېدنه:(بَر-دَه-مې-دَه-نه)حاصل مصدر- وګورئ بردمېدل-

بردمېدونکے:(بَر-دَه-مې-دَون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع بردمېدونکي- مؤنث بردمېدونکې- وګورئ بردمېدل-

بردمېدهٔ:(بَر-دَه-مې-دَهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ بردمېدل-

برده:(بَر-ده)اسم- واحد- مذکر/مؤنث- مرئے- وينځه- غلام- کنيز- زرخريد نوکر- (نر او ښځه دواړه)- (م- فارسي)-

برده فروش:(بَر-ده-فه-روش)اسم صفت- دَ مريو خرڅونکے- دَ انسانانو دَ خرڅولو کار کونکے- جمع برده فروشان- (م- فارسي)-

برده فروشي:(بَر-ده-فه-رو-شي)اسم- واحد- مؤنث- دَ مريُونو سوداګري- دَ انسانانو خرڅونه- (م- فارسي)-

بردے:(بَر-دے)اسم صفت- مذکر- ملېښناک- سرېښناک- نښلېدونکے- مؤنث بردې-

برړا:(بر-ړا)اسم- واحد- مذکر- يو قسم مارغه- جوعنده- کرلاج-

برړانګه:(بَر-ړانګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- برړه- لويه چغه- پهٔ زوره ژړا- رمباړه-

برړول:(بَر-ړه-وَل)مصدر متعدي- (۱)پهٔ بې معنو خبرو کولو مجبورول- (۲)اوښ دَ مستۍ دَ اواز پهٔ راوکښلو مجبورول- (۳)دَ کډې يا بزې پهٔ نر تېرول-

برړولے:(بر-ړه-وَه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع برړولي- مؤنث برړولې- وګورئ برړول-

برړون:(بر-ړه-وَن)حاصل مصدر- وګورئ برړول-

برړونکے:(بر-ړه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع برړونکي- مؤنث برړونکې- وګورئ برړول-

برړونګ:(بَر-ړه-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ برړول-

برړونه:(بَر-ړه-وَه-نه)حاصل مصدر- وګورئ برړول-

برړه:(بَه-رَه-ړه)اسم- واحد- مؤنث- برړه- اغزي او پاڼې نه لرونکې يو کلکه عرنيزه ونه چې ايره يې دَ نسوارو پهٔ جوړولو کښې پکارېږي او لهٔ پېو يې ژاوله جوړېږي- نباتاتي نوم فيکس بينګا لينسس (FICUS BENGALENSIS)-

برړه:(بَر-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)برړانګه- ورړه- رمباړه- فرياد- ژړا- لويه چغه- (۲)دَ مست اوښ اواز-

برړه:(بَه-رَه-ړه)اسم- واحد- مؤنث- دَ شطرنج مهره- جمع برړې-

برړه:(بَر-ړه)اسم- واحد- مؤنث- دَ وښو يا پټري وړوکې کېږې- جمع برړې-

برړېدل:(بَر-ړې-دَل)مصدر لازم- (۱)برېرېدل- بربرېدل- پهٔ زوره زوره بې معنې خبرې کول- (۲)دَ اوښ دَ مستۍ پهٔ حالت کښې چغې وهل-

برړېدلے:(بَر-ړې-دَه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع برړېدلي- مؤنث برړېدلې- وګورئ برړېدل-

برړېدن:(بَر-ړې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ برړېدل-

برړېدنګ:(بَر-ړې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ برړېدل-

برړېدنه:(بَر-ړې-دَه-نه)حاصل مصدر- وګورئ برړېدل-

برړېدونکے:(بَر-ړې-دَون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع برړېدونکي- مؤنث برړېدونکې- وګورئ برړېدل-

برړېدهٔ:(بَر-ړې-دَهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ برړېدل-

برز:(برز)اسم- واحد- مذکر- مورچه-

برزاله:(بر-زا-له)اسم- واحد- مؤنث- خېړمه- برزوله- دَ سترګې غلاف چې لاندې او باندې پړې باڼهٔ وي او دَ مغې دَ حرکت پهٔ وجه سترګې بندولے او غړولے شي-

برزخ:(بَر-زَخ)اسم- واحد- مذکر- (۱)بريد- پوله- حد- (۲)اصطلاحاً دَ جنت او دوزخ تر مېنځه مقام- دَ مرګ او حشر تر مېنځه موده- (م- عربي)-

برزنګ:(بَر-زَنګ)اسم- واحد- مذکر- مېړتون- هغه اُبهٔ لرونکے ښانګ چې پهٔ

زبر"(خ-بهٔ-ره)، زورکے"(شل)، پېش"(نو-کا-وه)، زېر"(ک-باب)، جزم"(شکون)، ه"(ر-ړه)، هٔ"(پو-ښې-دهٔ)

www.pukhto.net

جمع بېتي۔

بېتي:(بې-تي)اسم صفت۔ بېت۔ جاسوس۔ څارو۔ خبررسان۔ مخبر۔ پچوچي۔

بېتي:(بې-تي)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ بیاتي۔

بېټ:(بېټ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دَ کرکټ ځوباړے۔ (م۔ انګریزي)۔

بېټ:(بېټ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ ملاتړ۔ کومک۔ مرسته۔ امداد۔ مدد۔ لاس کونه۔ ننګه۔ لنګه‌پښتی۔

بېټ:(بېټ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)وچ۔ بې اُبو۔ بېټ۔ وچ بیابان۔ مېره۔ (۲)دَ بېهیو یو قسم لوبه۔ د اړوکو یوه لوبه۔ دَ سپېڅو یوه لوبه۔

بېټ:(بېټ)اسم صفت۔ بټ۔ چو۔ ناست (څناور) په ګونډو۔ څې۔ ګونډه شوے۔ (م۔ هندي بېټهنا۔ کېناستل)۔

بې ټانګه:(بې-ټانګ-ګه)اسم صفت۔ څشے۔ پوچ۔ چټي۔ عبث۔ فضول۔ (افغانستان)۔ (م۔ ټانګ۔ وخت)۔

بېټرۍ:(بېټ-رۍ)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ ټارچ۔ چورباټي۔ لاس کښې دَ ګرځولو دَ سیلونو په ذریعه رڼا ورکونکې آله۔ (م۔ انګریزي)۔

بېټک:(بې-ټک)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د کور سره جُخت د مېلمنو د پاره جوړه کوټه یا کمره۔ حجره۔ ډېره۔ (م۔ هندي)۔

بېټکے:(بې-ټک-کے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دَ بېټک اسم تصغیر۔ وګورئ بېټک۔

بېټول:(بې-ټ-ول)مصدر متعدي۔ بېټ نه مصدر۔ په ګونډو کول۔ چو کول۔ مجازاً شکست ورکول۔

بېټون:(بې-ټ-ون)حاصل مصدر۔ وګورئ بېټول۔

بېټونکے:(بې-ټ-وون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع بېټونکي۔ مؤنث بېټونکې۔ وګورئ بېټول۔

بېټونګ:(بې-ټ-ونګ)حاصل مصدر۔ وګورئ بېټول۔

بېټونه:(بې-ټ-ونه)حاصل مصدر۔ وګورئ بېټول۔

بېټه:(بې-ټه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ کل۔ کنجاړه۔ خنجاړه۔ دَ تېلو دَ کاني نه راوتے پوګ۔

بېټه:(بې-ټه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)دَ غرهٔ لمن۔ غنډی۔ (۲)شپول۔ پنډغالے۔ ځاوال۔ دَ رمې دَ پنډولو ځاې۔ دَ ګهو دَ رمې دَ آرام او ودرولو ځاې۔

بېټه:(بې-ټه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ دبه۔ ډبه۔ لهٔ څرمنې جوړ د تېلو د ساتلو لوښے۔

بېټېدل:(بې-ټې-دل)مصدر لازم۔ چو کېدل۔ څې کېدل۔ په ګونډو کېدل۔ دَ څناور کېناستل۔

بېټېدنه:(بې-ټې-د-نه)حاصل مصدر۔ وګورئ بېټېدل۔

بېټېدونکے:(بې-ټې-دون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع بېټېدونکي۔ مؤنث بېټېدونکې۔ وګورئ بېټېدل۔

بېټېدهٔ:(بې-ټې-دهٔ)حاصل مصدر۔ دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه۔ وګورئ بېټېدل۔

بېټي:(بې-ټي)اسم۔ واحد/جمع۔ مؤنث۔ دَ سرو زرو امېل کښې پېیلې مرۍ۔

بېجور:(بې-جور)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د لمنځي یو قسم ونه چې دَ عمارتونو په جوړولو کښې بکار راځي۔

بېجي:(بې-جي)اسم صوت۔ بېجي۔ د بي بي جي نه مخفف۔ دَ خطاب توری۔

بېخانتوب:(بې-خان-توب)اسم۔ (۱)لهٔ خان نه ناخبري۔ بېخاني۔ (۲)کمزوري۔ (۳)بېهوسي۔

بېخانوکے:(بې-خا-نو-کے)اسم صفت۔ مذکر۔ کمزورے۔ ماندهٔ۔ (افغانستان)۔

بېخانه:(بې-خا-نه)اسم صفت۔ (۱)لهٔ خانه بې خبره۔ مدهوش۔ (۲)کمزورے۔ ماندهٔ۔ (افغانستان)۔

بېخاني:(بې-خا-ني)اسم۔ وګورئ بېخانتوب۔

بېخایتوب:(بې-خاې-توب)اسم۔ بې ځائي۔ بې کوري۔

بېخایه:(بې-خا-یه)اسم صفت۔ (۱)چې په ځاې نهٔ وي۔ (۲)دَ لاس پښو دَ ښورکو وتنه۔ (۳)ناموزون۔ فضول۔ عبث۔ څشے۔ (۴)بې کوره۔ بې مېنې۔ بې مسکنه۔ (۵)بې ګوده۔ (دوېمه معنی کښې اسم)۔

بېخانۍ:(بې-خا-نۍ)اسم۔ وګورئ بېخایتوب۔

بېخل:(بې-خل)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ تکر۔ بېخله۔ شنډي۔ د کاڼو او لوټو نه جوړه دونګاچه یا پښتی چې دَ سیلاب اُبهٔ پرې تمبولے شي۔ دَ کاڼو دېوال۔ سوبلے۔ جمع بېخلي بېخلونه۔

بېخل:(بې-خل)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ ګړونج۔ ګړبجے۔ د منګو یا مشکونو دَ پاره جوړ ځاې۔

بېخله:(بې-خ-له)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ تکر۔ وګورئ بېخل ۱۔

بېخخه:(بې-خ-خه)اسم صفت۔ بېراسته۔ سست۔ لټ۔ الکي۔ ناړامه۔ (افغانستان)۔

بېخه:(بې-خه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ د لحد تبی مفه وړده او پلنه تیږه چې په لحد ایښولے شي۔ جمع بېخې۔ (افغانستان)۔

بېچانه:(بې-چا-نه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ په کټ یا فرش دَ غوړولو څادر۔ جمع بېچانې۔ (م۔ هندي)۔

بېچاون:(بې-چا-ون)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ په کټ د غوړولو لویٔ څادر چې عام طور سره سپین وي۔ (م۔ هندي)۔

بېچاونه:(بې-چاو-نه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)بستره۔ (۲)دَ کټ څادر۔ پالنګ پوش۔ جمع بېچاونې۔

بېچلر:(بېچ-لر)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ اصل معنی بالغ۔ اصطلاحاً بکلوریا۔ د یونیورسټۍ ورومبی ډګری چې د څوارلسم جماعت نه پس ته ورکولے شي۔ (م۔ انګریزي)۔

بېچون:(بې-چون)اسم صفت۔ (۱)دَ خدایٔ پاک یو صفتي نوم۔ (۲)چې مثال نهٔ لري۔

بېچونه:(بې-چو-نه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ بېچاونه۔

بېچي:(بې-چي)اسم صوت۔ (۱)د بي بي جي مخفف۔ (۲)دَ قرآن شریف

www.pukhto.net

بښونکې استاذه- (۲)مشرې ښځې ته دَ خطاب توری- بيجي- (دويمه معنی کتبي اسم)-

بېخه(بې-خه)اسم- واحد- مؤنث- يو غرنے وابنهٔ چې کوی بزی ئې خوری- جمع بخې-

بېحرمته(بې-حر-مه)اسم صفت- بې رسالته- په وزر- معذور- ما سعسر کسې بې رسالت-

بېحرتي(بې-حر-تي)اسم- مؤنث- د بې حرمته کېدو حالت-

بېحرمتي (بې-حُر-مَتِي)اسم- بې ځايه- بې موقعې کار- بې وخته کار- (افغانستان)-

بېخور(بې-خُ-ور)اسم صفت- (۱)هيح لرونکے- بنيادی- (۲)کونالتور- هغه څوک چې د بدن لاندې حصه ئې غټه ری-

بېخول(بې-خول)اسم صفت- مذکر- بدشکل- بدرنګ- کمزورے- اپاېج-

بېخوله(بې-خو-له)اسم صفت- مذکر مؤنث- بدشکله- بدرنګه- بدقواره- بې څېرې-

بېخې(بې-خې)اسم صفت- لهٔ بېخه- بالکل- قطعي- لهٔ مونږه- (م- دَ فارسي بېخ نه مشتق)-

بېد(بېد)اسم- واحد- مذکر- (۱)ولهـ خرولهـ يو قسم وَنه چې څانګې ئې وېرې لچکداری وی- (۲)د بسنت وَنهـ نباتاتي نوم کېلي مس روتهنګ- (۳)دَ بېد نه جوړه دَ ګرخولو لښته- (۴)د بېد پوټکے چې کرسی وغيره پرې بنولے شی- (م- فارسي)-

بېداد(بې-داد)اسم صفت- (۱)ويښ- د اودهٔ ضد- دَ غافل ضد- (۲)چالاک- هوښيار- تکړه- (۳)باخبر- مؤنث بېداده- جمع مؤنث بېدادی- (م- فارسي)-

بېدارول(بې-دا-ر-ول)مصدر متعدی- (۱)ويښول- لهٔ خوبه پاڅول- (۲)هوښيارول- پوهول- خبردارے ورکول-

بېدارون(بې-دا-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ بېدارول-

بېدارونکے(بې-دا-ر-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع بېدارونکي- مؤنث بېدارونکې- وګورئ بېدارول-

بېدارونګ(بې-دا-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ بېدارول-

بېدارونه(بې-دا-ر-ونه)حاصل مصدر- وګورئ بېدارول-

بېدارونے(بې-دا-ر-وو-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع بېدارونی- مؤنث بېدارونې- وګورئ بېدارول-

بېداره بېداری(بې-دا-ر-مبې-دا-ری)اسم- ښهٔ ويښتوب- دَ ښهٔ بېدار کېدو حالت-

بېداری(بې-دا-ری)اسم- مؤنث- (۱)ويښتوب- ويښه- بېداروالے- (۲)چالاکي- تکړه والے-

بېدارېدل(بې-دا-ری-دل)مصدر لازم- (۱)ويښېدل- لهٔ خوبه پاڅېدل- (۲)پوهېدل- خبردارېدل-

بېدارېدن(بې-دا-ري-دن)حاصل مصدر- وګورئ بېدارېدل-

بېدارېدنګ(بې-دا-ري-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ بېدارېدل-

بېدارېدنه(بې-دا-ري-دنه)حاصل مصدر- وګورئ بېدارېدل-

بېدارېدونکے(بې-دا-ري-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع بېدارېدونکي- مؤنث بېدارېدونکې- وګورئ بېدارېدل-

بېدارېدهٔ(بې-دا-ري-دهٔ)حاصل مصدر- د ماضي استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ بېدارېدل-

بې دماغه(بې-د-ما-غه)اسم صفت- بددماغه- تريخ- خشک- خشکي-

بېدو(بې-دو)اسم صفت- بېدونے- کټ مټ- هوبهو-

بېدونے(بې-دو-نے)اسم صفت- وګورئ بېدو-

بېده(بې-ده)اسم- واحد- مؤنث- وچ وابښه- لمورهـ دَ ښوکېدی- وچ شوتل يا رشقه-

بېديا(بېد-يا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وچه مېره- بيابان- دشت- صحرا- (۲) سرزن- بهرـ دَ باندی- ورچې- ورشې- جمع بېدياګانې-

بېدياکوتره(بېد-يا-کو-تره) اسم- واحد- مؤنث- ځنګلي کوتره- دَ غرهٔ کوتره- راکی کمتره- (افغانستان)-

بېدياني کوتره(بېد-يا-ني-کو-تره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ بېدياکوتره-

بېديانے(بېد-يا-نے)اسم صفت- (۱)پهٔ صحرا بيابان کښې اُسېدونکے- ساراني- صحرائي- صحرانے- (۲)بهرنے- د باندينے- (۳)پردے- لهٔ بل ځايه راغلے- بېګانه- مؤنث بېدياني- (افغانستان)-

بېدي بېديا(بې-دی-بېد-يا)اسم صفت- خشکه مېره- غېر اباده- وېجاړه- لوګ بيابان- چولی بيابان-

بېډ(بېډ)اسم- واحد- مذکر- بستره- (م- انګريزی)-

بېډبه(بې-ډ-به)اسم صفت- بدتميز- کم عقل- نادان- بې طريقې-

بېډروم(بېډ-روم/بېډ-روم)اسم- واحد- مذکر- دَ اودهٔ کېدو کمره-

بېډمنټن(بېډ-من-ټن)اسم- واحد- مذکر- دَ ټېنس په شان يوه لوبه چې په ټېه او چړيا کېږی- (م- انګريزی)-

بېډون(بې-ډون)اسم صفت- کجے- کږی پښې لرونکے- اوے کوے- چووے- شل پايو- کچل- کچے-

بېډون(بې-ډون)اسم- واحد- مذکر- دَ لرګي بوټي-

بېډون(بې-ډون)اسم صفت- بدرنګه- بدشکله- ناتراشلے- بې بوله-

بېډوے(بې-ډ-وے)اسم صفت- مذکر- بې پروا- بې فکره- بې باکه- مؤنث بې ډوی- (افغانستان)-

بېډی(بې-ډی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- د زنګانهٔ سترګه- سپښته- سپښته- محله-

بېرامه(بې-را-مه)اسم صفت- ظالم- زياتي کونکے- (م- راتلونکے ټکے)-

بېرامي(بې-را-مي)اسم- مؤنث- ظلم- زياتے- (م- شايد لهٔ "بې رحمي" ځنې

www pukhto net

مشتق:-

بېران:(بې-ران)اسم صفت- (۱)عېبر اباد- ويران- کنډر- وران- برباد- خراب- ويجاړ- (۲)بې هوشه- بې حسه- ضعيف- (افغانستان)-

بېرانول:(بې-را-ن-ول)مصدر متعدي- (۱)ورانول- بربادول- خرابول- کنډول- (۲)بې هوشه کول- بې حسه کول- بې خوده کول- ضعيفول-

بېرانون:(بې-را-ن-ون)حاصل مصدر- وګورئ بېرانول-

بېرانونکے:(بې-را-ن-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع بېرانونکي- مؤنث بېرانونکې- وګورئ بېرانول-

بېرانونګ:(بې-را-ن-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ بېرانول-

بېرانونه:(بې-را-ن-وڼه)حاصل مصدر- وګورئ بېرانول-

بېرانه:(بې-را-نه)اسم صفت- واحد- مؤنث- د بېران مؤنث- خرابه- ويجاړه- ويرانه- کنډواله-

بېراني:(بې-را-ني)اسم- (۱)بېهوشي- بې خودي- بې حسي- (۲)خرابي- وراني- ويجاړي- کنډوالي- (۲)بد چوري- بدمعامله ګي-

بېرانېدل:(بې-را-نې-دل)مصدر لازم- (۱)ورانېدل- ورانېدل- کنډېدل- ويجاړېدل- رنګېدل- (۲)بې هوشه کېدل- بې خوده کېدل- بې حسه کېدل- (افغانستان)-

بېرانېدلے:(بې-را-نې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع بېرانېدلي- مؤنث بېرانېدلې- وګورئ بېرانېدل-

بېرانېدن:(بې-را-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ بېرانېدل-

بېرانېدنګ:(بې-را-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ بېرانېدل-

بېرانېدنه:(بې-را-نې-دڼه)حاصل مصدر- وګورئ بېرانېدل-

بېرانېدونکے:(بې-را-نې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع بېرانېدونکي- مؤنث بېرانېدونکې- وګورئ بېرانېدل-

بېرانېدونے:(بې-را-نې-دو-نے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع بېرانېدوني- مؤنث بېرانېدونې- وګورئ بېرانېدل-

بېرانېدهٔ:(بې-را-نې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ بېرانېدل-

بېرته:(بېر-ته)اسم صفت- بيرته- خلاص- برڅېره- پرانستے- (کول کېدل مصدرونه)-

بېرړا:(بېر-ړا/بېر-ړه)اسم- واحد- مؤنث- سپېر کنډه- سپېر کندکه- جل حراړه- خراکه- خړرنګ لړونکي مرغۍ-

بېرړه:(بېر-ړه)اسم- واحد- مؤنث- وړه غزه- وړه اکوړ-

بېرسټر:(بې-رس-ټر)اسم- برطانيه کښې د قانون له اتونو (۱۸۸۵) نه فارغ شوے عدالتي وکيل- (م- انګريزي)-

بېرسټرتوب:(بې-رس-ټر-توب)اسم- د بېرسټر کېدو حالت او پېشه- وکالت- بېرسټري-

بېرسټري:(بې-رس-ټه-ري)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ بېرسټرتوب-

بېرغ:(بې-رغ)اسم- واحد- مذکر- پرچم- جنډه- توغ- نشان- جمع بېرغونه-

بېرکال:(بېر-کال)اسم- واحد- مذکر- د غوا يا غوټي د خرمڼي مشک- ژے- جېک- (افغانستان)-

بېرندوکے:(بې-رن-دو-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- بزدل- وارن- زيربدوکے-

بېرنجےتوت:(بې-رن-جے-توت)اسم- واحد- مذکر- يو قسم توت- (افغانستان)-

بېرنګ:(بې-رنګ)اسم صفت- هغه د ډاک خط چې مطلوبه ټکټ پرې نهٔ وي لګېدلے او پهٔ جرمانه کښې ئې يو پهٔ دوه پېسې وصولولے شي- (م- انګريزي)-

بېرنګ:(بې-رنګ)اسم- واحد- مذکر- د موټرو- لارو- پکو او داسې نورو مشينونو کښې استعمالېدونکي ګراري چې پهٔ چرو ګرځي- (م- انګريزي)-

بېرنه:(بې-رڼه)حاصل مصدر- پارېدنه- ويرېدنه-

بېرن:(بې-رن)اسم- واحد- مذکر- غربيزه رشقه- (افغانستان)-

بېرو:(بې-رو)اسم صفت- (۱)بې شرمه- بې حيا- شوخ- بدلحاظه- (۲)د چا سفارش نهٔ منونکے- بې مخه- (۳)بې رويه- بې ريا- مخلص-

بېروزه:(بې-رو-زه)اسم- واحد- مؤنث- ګنده بېروزه- د نښتر ژاوله- ژوغله- يو قسم سلېښناکه ماده چې د نښتر له ونې پيدا کيږي او د تارپين تېل ترې ويستلے شي-

بېرول:(بې-رول)مصدر متعدي- ويرول- پارول-

بېرولے:(بې-رو-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع بېرولي- مؤنث بېرولې- وګورئ بېرول-

بېروميټر:(بې-رو-مي-ټر)اسم- ماشما- د باد ارخ او دباؤ معلومونکې يوه آله- (م- انګريزي)-

بېرون:(بې-رون)حاصل مصدر- وګورئ بېرول-

بېرون:(بې-رون)اسم صفت- (۱)بهر- ورڅنې- ورشنې- (۲)ګرګند- ښکاره- بربنډ- برڅېره- (۲)وستلے- (م- فارسي)- (افغانستان)-

بېرونکے:(بې-رو-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع بېرونکي- مؤنث بېرونکې- وګورئ بېرول-

بېرونګ:(بې-رونګ)حاصل مصدر- وګورئ بېرول-

بېرونه:(بې-رو-ڼه)حاصل مصدر- وګورئ بېرول-

بېروني:(بې-رو-ني)اسم صفت- بهرني- ګرګند- ښکاره- (م- فارسي)-

بېرونے:(بې-رو-و-نے)اسم صفت- جمع بېروني- مؤنث بېرونې- وګورئ بېرول-

بېرونه:(بې-رو-نه)اسم صفت- بې قاعدې- بې ترتيبه- غير منظم- (افغانستان)-

بېروني:(بې-رو-ني)اسم- بې قاعدګي- بې ترتيبي- بې نظمي- (افغانستان)-

بېروه:(بې-رو-ه)اسم- کبل-

پاړسیوان:(پا-ړ-سی-وان)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پارسی وان-

پاړکیے:(پا-ړ-کیے)اسم- واحد- مذکر- (۱)قطع- شعر- بیت- ټوټه (افغانستان)- (۲)فال- بخت- طالع- جمع پاړکي-

پاړو:(پا-ړو)اسم- واحد- مذکر- هغه آله چې د میږي ښکلي پرې جوړولے شي- جمع پاړوګان-

پاړو:(پا-ړو)اسم صفت- واحد- مذکر- پاړوګر- د ماړانو ووده لړونکے- (۲)دم- ووده- پاړ- (اسم)- (۳)منافق- (۴)بدچلن- چلباز- جمع پاړرګان-

پاړوتوب:(پا-ړو-توب)اسم- پاړوګري- پاړوګرتوب- د پاړو کسب-

پاړوګر:(پا-ړو-ګر)اسم صفت- واحد- مذکر- پاړیګر- پوړیګر- مارګیر- (۲)جادوګر- د معنی د پاره وګورئ پاړو-

پاړوګري:(پا-ړو-ګه-ري)اسم- (۱)د ماړانو د نیولو کار- مارګیري- ووده او دم سره مار نیونه- مار نیونه- (۲)منتر- دم- جادوګري-

پاړول:(پا-ړ-ول)مصدر- علول- جادو کول-

پاړولے:(پا-ړ-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پاړولي- مؤنث پاړولې- وګورئ پاړول-

پاړون:(پا-ړ-ون)حاصل مصدر- وګورئ پاړول-

پاړونکے:(پا-ړ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پاړونکي- مؤنث پاړونکې- وګورئ پاړول-

پاړونګ:(پا-ړ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پاړول-

پاړونه:(پا-ړ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ پاړول-

پاره (پا-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د دوو کیلو په منځ کښې د اوولو نه پاتې شوې د پښې حصه- (۲)په کار کښې نیمګړتیا- (۳)د جامو زیخلو تخته- (۴)لویه غلطي- د بدناموسي کار- (۵)هغه کور لرګے چې بغرۍ ته پرې شولې راوولے شي- (۶)ووده- دم دروه- (۷)د لرګي پوم- راشپېل- راشبل- (۸)فال- بخت- (۹)د ناښایانو سیخ- (۱۰)الغبا-

پړه:(پا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پاړ- جمع پاړې-

پاړه:(پا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- د مدرسې د ماشومانو د یادولو د پاره د خنو عددونو د ضرب قاعده- ام- هندي پهاړا)-

پاره:(پا-ره)اسم- واحد- مؤنث- پېره- وار- ځل- پلوه- جمع پارې-

پاړېدل:(پا-ړې-دل)مصدر- غلېدل- دوکه کېدل-

پاړېدن:(پا-ړې-دن)حاصل مصدر- وګورئ پاړېدل-

پاړېدنګ:(پا-ړې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ پاړېدل-

پاړېدنه:(پا-ړې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ پاړېدل-

پاړېدونکے:(پا-ړې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پاړېدونکي- مؤنث پاړېدونکې- وګورئ پاړېدل-

پاړېدهٔ:(پا-ړې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ پاړېدل-

پاړې:(پا-ړې)اسم- واحد جمع- مؤنث- د هوسې یو قسم- غرڅه- (م- هندي)-

پاړي:(پا-ړي)اسم- واحد جمع- مؤنث- پاړ- پېرې- د کانړو، تیږو او خښتو وغیره په ترتیب سره د یو بل د پاسه ایښودې شوې پېرې-

پاړي:(پا-ړي)اسم- واحد جمع- مؤنث- د هندوانې خټکي تړازه- چنډه- تیمدړه-

پازاب (پا-زاب)اسم- (۱)په عذاب- په تکلیف- (۲)تکلیف ورکونکے- (م- په عذاب)-

پازابول:(پا-زا-ب-ول)مصدر- تکلیف ورکول- عذاب ورکول-

پازابون:(پا-زا-ب-ون)حاصل مصدر- وګورئ پازابول-

پازابونکے:(پا-زا-ب-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پازابونکي- مؤنث پازابونکې- وګورئ پازابول-

پازابونه:(پا-زا-ب-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ پازابول-

پازابېدل:(پا-زا-بې-دل)مصدر لازم- په عذاب کېدل- په تکلیف کښې کېدل-

پازابېدن:(پا-زا-بې-دن)حاصل مصدر- وګورئ پازابېدل-

پازابېدنه:(پا-زا-بې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ پازابېدل-

پازابېدونکے:(پا-زا-بې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پازابېدونکي- مؤنث پازابېدونکې- وګورئ پازابېدل-

پازند:(پا-زند)اسم- د زردشتي مذهب د کتاب "ژند" تفسیر او شرح- پاژند-

پازوال:(پاز-وال)اسم صفت- تاثیر لرونکے- اثر لرونکے- پازه وال- (افغانستان)-

پازه:(پا-زه)اسم- تاثیر- اغېزه- اثر- (۲)چالاکي- تندي- تېزي- (۳)جرأت- مړانه- زړورتیا- (۴)تنه رنا- (۵)لحاظ- (۶)شرم- حیا- (۷)نصیحت (کول مصدر)-

پازه وال:(پا-زه-وال)اسم صفت- (۱)خدمتګار- نعال- (۲)معتمد- (۳)منشي- محرر- لیکونکے- پاژوال-

پازیکه:(پا-زي-که)اسم صفت- پاکیزه- صفا- خالص- سوتره- (پاکیزه عامیانه)-

پازیکه:(پا-زي-که)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- پاک- پاکیزه- پاک و صاف- سپېځلے- سپین سپېځلے- په کردار او خوئي خصلت پاک- (پاکیزه عامیانه)-

پازیب (پا-زیب)اسم- واحد- مؤنث- پېنزېب- پایزېب- د پښو د سپینو زرو یو پسول-

پاژند:(پا-ژند)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پازند-

پاژوال:(پاژ-وال)اسم- واحد- مذکر- (۱)خادم- خدمتګار- نوکر- (۲)خوشامدګر-

پاژوالي:(پاژ-وا-لي)اسم- د پاژوال کېدو حالت- وګورئ پاژوال-

پاژوالیتوب:(پاژ-وا-لي-توب)اسم- پاژوالي کونه- وګورئ پاژوالي-

پاژوله:(پا-ژو-له)اسم- واحد- مؤنث- له وژغمې جوړې جړامې- د وژغمی

www.pukhto.net

ماسی۔

پاړ:(پاړ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ ړیون۔ پړسوب۔ پاړسوب۔ هغه بیماری چې سر پکښې خاربښتیږی او پړسوب کوی۔ سرپاړی۔

پاړول:(پا-ړ-ول)مصدر متعدی۔ پړول۔ پړسول۔

پاړون:(پا-ړ-زن)حاصل مصدر۔ وګورئ پاړول۔

پاړونکے:(پا-ړ-وون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع پاړونکی۔ مؤنث پاړونکې۔ وګورئ پاړول۔

پاړونه:(پا-ړ-وڼه)حاصل مصدر۔ وګورئ پاړول۔

پاړوے:(پاړ-وے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ غرنے پیاز۔ پیازکے۔ پیازک۔ نباتاتی نوم د پاړه وګورئ پیازکے۔

پاړه:(پا-ړه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)دم۔ د دم یا منتر اثر۔ د کوډو، دم او ودي تاثیر۔ (۲)لۀ ځلې هوا رکېنه۔

پاړېدل:(پا-ړې-دل)مصدر لازم۔ پړسېدل۔ پړېدل۔ خاربښتېدل او پړسېدل۔

پاړېدلے:(پا-ړې-دلے)اسم مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ جمع پاړېدلی۔ مؤنث پاړېدلې۔ وګورئ پاړېدل۔

پاړېدن:(پا-ړې-دن)حاصل مصدر۔ وګورئ پاړېدل۔

پاړېدنه:(پا-ړی-دڼه)حاصل مصدر۔ وګورئ پاړېدل۔

پاړېدونکے:(پا-ړی-دون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع پاړېدونکی۔ مؤنث پاړېدونکې۔ وګورئ پاړېدل۔

پاړېدهٔ:(پا-ړې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه۔ وګورئ پاړېدل۔

پاس:(پاس)اسم صفت۔ پورته۔ وچت۔ بره۔ د پاسه جګ۔ هسک۔ زیات۔

پاس:(پاس)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د چونې او تېلو نه جوړ د ګاروبو د پاره د خاربښت ملهم۔

پاس:(پاس)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ لحاظ۔ خاطر۔ پاسداری۔ (م۔ فارسی)۔

پاس:(پاس)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ اجازت نامه۔ راه داری۔ (جمع پاسونه)۔ (۲)کامیاب۔ (جمع نهٔ لری)۔ (۳)پهٔ ځنو لوبو لکه فټ بال، هاکي، والی بال وغیره کښې لهٔ یو لوبغاړی لهٔ خوا بل ته غنیمکه حواله کونه۔ (م۔ انګریزی)۔

پاسبان:(پاس-بان)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ پاسوان۔ ګوکیدار۔ پېره دار۔ دربان۔ ساتونکے۔ حفاظت کونکے۔ جمع پاسبانان۔ (م۔ فارسی)۔

پاسبانی:(پاس-با-نی)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ پاسوانی۔ ګوکیداری۔ ساتنه۔ حفاظت کونه۔ (م۔ فارسی)۔

پاسپوټ:(پاس-پوټ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ لهٔ ملکه د بهر تللو د اجازت نامې کتابچه۔ پاسپورټ۔ جمع پاسپوټونه۔ (م۔ انګریزی)۔

پاسپورټ:(پاس-پورټ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ پاسپوټ۔ (م۔ انګریزی)۔

پاست:(پاست)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ منت۔ احسان۔ مننه۔ تشکر۔ شکریه۔ (م۔ فارسی)۔

پاسته:(پاس-ته)اتباع مهمل۔ د ناسته تابع مهمل۔ د ناسته سره یو ځایٔ د کېناست، دوستی معنی ورکوی۔

پاستهٔ:(پاس-تهٔ)اسم صفت۔ د پوست جمع۔

پاستے:(پاس-تے)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ څپاتی۔ چپاتی۔ (افغانستان)۔ څپېتے۔ مکے۔ لوکړے۔ پمره سرمه او ببره پلمه دوډی۔ جمع پاستی۔ (ش۔ هندی۔ چپاتی)۔

پاسداری:(پاس-دا-ری)اسم۔ لحاظ ساتنه۔ پام ساتنه۔

پاسدل:(پاس-دل)مصدر۔ زوند کول۔ وحت تېرول۔

پاسدلے:(پاس-دلے)اسم مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ جمع پاسدلی۔ مؤنث پاسدلې۔ وګورئ پاسدل۔

پاسدن:(پاس-دن)حاصل مصدر۔ وګورئ پاسدل۔

پاسدنګ:(پاس-دنګ)حاصل مصدر۔ وګورئ پاسدل۔

پاسدنه:(پاس-دڼه)حاصل مصدر۔ وګورئ پاسدل۔

پاسدونکے:(پاس-دون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع پاسدونکی۔ مؤنث پاسدونکې۔ وګورئ پاسدل۔

پاس دپاسه:(پاس-د-پاسه)فعل (مرکب)۔ مهر په مهر۔ لړی لړی۔ بیل بیل۔ سب به سبه۔ علے عدٰ۔

پاسره:(پاس-ره)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)بونګه۔ سهومه۔ دخیره۔ بچت۔ پانګه۔ پنګه۔ سکه۔ (۲)بوکړے۔ بوګړے۔ بکړے۔ (۳)د پیو هغه جمع چې پخه ې د خاوند نه پټه کوی۔ (۴)وجه۔ سبب۔ ساعت۔

پاسره ګر:(پاس-ره-ګر)اسم فاعل صفت۔ د پاسره سره متعلق۔ پاسره کونکے۔ وګورئ پاسره۔ جمع پاسره ګری۔ مؤنث پاسره ګره۔

پاسره ګری:(پاس-ره-ګه-ری)اسم۔ د پاسره ګر جوړبدو حالت۔ وګورئ پاسره ګر۔

پاسره وال:(پاس-ره-وال)اسم فاعل صفت۔ وګورئ پاسره ګر۔ جمع پاسره وال۔

پاسل:(پاسل)مصدر۔ پاسلل۔ ښېګړه کول۔ احسان کول۔ احسان مند کول۔ (۲)ماروغه ګاروی ماللر کول۔ خیال ساتل۔ (۳)سپارل۔ حواله کول۔

پاسلل:(پاس-لل)مصدر۔ وګورئ پاسل۔

پاسللے:(پاس-للے)اسم مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ جمع پاسللی۔ مؤنث پاسللې۔ وګورئ پاسلل۔

پاسلنه:(پاس-لڼه)حاصل مصدر۔ وګورئ پاسلل۔

پاسلودل:(پاس-لو-دل)مصدر۔ (۱)سپارل۔ حواله کول۔ پاسل۔ پاسلول۔ (۲)ښېګړه کول۔ احسان اړول۔ (۳)امنل۔ تسلیمول۔

پاسلودنه:(پاس-لو-دڼه)حاصل مصدر۔ وګورئ پاسلودل۔

پاسلول:(پاس-ل-ول)مصدر۔ وګورئ پاسلودل۔

پاسلونے:(پاس-ل-وو-نے)اسم فاعل۔ وګورئ پاسلودل۔

پاسلونے:(پاس-لو-نے)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ سپارلے۔ حواله کړے۔ هغه

"ی" (ځی-رل)، "ی"(مې-ره-ول)، "ی"(پیا-لی)، "ې"(تن-ځې) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۹

www.pukhto.net

ځوک چې په چا د څهٔ شي سپارښتنه وکړي-

پاسلوینه:(پاس-لو-یهٔ-نه)حاصل مصدر- پاسلونه- وګورئ پاسلودل-

پاسلېیل:(پاس-لې-یل)مصدر- زېادول- وربادول- شرمنده کول- دَ نېکۍ یا ښېګړې بار بار یادول-

پاسلېیلے:(پاس-لې-یهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پاسلېیلي- مؤنث پاسلېیلې- وګورئ پاسلېیل-

پاسلېیه:(پاس-لې-یهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پاسلېیل-

پاسلېیونکے:(پاس-لې-یون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پاسلېیونکي- مؤنث پاسلېیونکې- وګورئ پاسلېیل-

پاسلے:(پا-سهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پاسلي- مؤنث پاسلې- وګورئ پاسل-

پاسه:(پا-سهٔ-نه)اسم- (۱)لحاظ- رعایت- مراعت- (۲)احسان منديِ-

پاسنۍ:(پا-سهٔ-نۍ)اسم صفت- واحد جمع- مؤنث- دَ پاسنی مؤنث- وګورئ پاسے-

پاسنۍ:(پا-سهٔ-نۍ)اسم- واحد جمع- مؤنث- دَ ماشومانو یو قسم بیماري-

پاسنۍ:(پا-سهٔ-نۍ)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ ابره-

پاسنے:(پاس-نے)اسم صفت- (۱)برنے- دَ بره- لوړ- (۲)دَ وَچتې علاقې وسېدونکے- دَ غرنیزې علاقې وَسېدونکے- جمع پاسني- مؤنث پاسنۍ-

پاسو:(پا-سو)اسم صفت- (۱)خاکسار- غلے- عاجز- کمینه- (۲)پست- ټیټ- لوچک- لوچه- رذیل- ادنیٰ- جمع پاسوکان-

پاسوال:(پاس-وال)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ساتونکے- څوکیدار- محافظ- حفاظت کونکے- (۲)بادشاه-

پاسوان:(پاس-وان)اسم فاعل/صفت- وګورئ پاسبان-

پاسوانی:(پاس-وا-نی)اسم- مؤنث- وګورئ پاسباني-

پاسه:(پا-سه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)اصلي او سوچه سرهٔ زر چې لهٔ مېخ قسمه ګډون پکښې نهٔ وي شوے- (۲)اګره- روغ- اعتباري- رښتونے- (اسم صفت)- (م- هندي)-

پاسه:(پا-سه)صفت- پاس- پورته- وَچت-

پاسی بان:(پا-سی-بان)اسم فاعل/صفت- پاسبان- نګهبان- پاسوان- څوکیدار- حفاظت کونکے-

پاسی:(پا-سی)اسم- واحد جمع- مؤنث- پهانسي- پانسي-

پاش:(پاش)اسم صفت- دَ قاش عامیانه قرات- څرګند- ښکاره- خور- رسوا-

پاش:(پاش)اسم صفت- واحد- مذکر- فحش- اپلتې- بربنډه او لغړه وینا- سپوري ستغې- (م- عربي)-

پاشان:(پا-شان)اسم صفت- (۱)ګډوډ- بې نظمه- خور وور- چیتر بیتر- (۲)بې پروا- لېوچک-

پاشتک:(پاش-تک)اسم- واحد- مذکر- واسه- پاشتوک- پخی- چڼ- چاڼ- هغه وړوکی خشاکی لرګی چې دَ کوټې دَ پټولو په وخت په کوټه اچولے شي- جمع پاشتکونه- پاشتکي-

پاشتکه:(پاش-تهٔ-که)اسم- واحد- جمع پاشتکي- وګورئ پاشتکے-

پاشتکے:(پاش-تهٔ-کے)اسم- واحد- مذکر- دَ اندرپاڼي دستکے- پاټکے- جمع پاشتکي- (پوړي)- (۲)وګورئ پشتکے-

پاشتکي:(پاش-تهٔ-کي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ پیشتکے- (پوړي)-

پاشتوک:(پاش-توک)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پاشتک-

پاشل:(پا-شل)مصدر- (۱)توستل- شیندل- دوړول- شنل- دانه دانه کول- نُستل- خوروِل- غُرخول- تار په تار کول- (۲)خفه کول-

پاشلے:(پا-شهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پاشلي- مؤنث پاشلې- وګورئ پاشل-

پاشنه:(پاش-نه)اسم- هغه وړوکے لرګے چې دَ تمبې په چوړ کښې ګرځي- (م- فارسي)-

پاشنه:(پا-شهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پاشل-

پاشنه ګرد:(پاش-نَ-ګرد)اسم- هغه سوړے چې پاشنه پکښې ګرځي-

پاشونکے:(پا-شون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پاشونکي- مؤنث پاشونکې- وګورئ پاشل-

پاشویه:(پا-شو-یه)اسم- (۱)پښې وینځنه- (۲)په تبه کښې دَ یو علاج نوم چې په هغې کښې بیمار د ګیټو نه تر پښو پورې په ګرمو اُبو وینځي او بیا ئې په کپړې سره تړي-

پټے:(پ-ټے)اسم- واحد- مذکر- (۱)د کر کرونديږ قابل د زمکې ټکړه- (۲)زرعی جائیداد- جمع پټي-

پچ:(پچ)اسم- واحد- مذکر- (۱)د حجامت چاړه یا مشین- (۲)ټک- زخم- پرهر-

پچ:(پچ)اسم- واحد- مذکر- پچنه- هغه ټکر چې جراحان یَ دَ وینې ایستلو د پاره استعمالوی- جمع پچونه-

پچاړ:(پـ-چاړ)اسم صفت- پېچاړ- اچه- صفا- سُتره- سوتره- پاکیزه-

پچرک:(پچ-رک)اسم صفت- بژه بژه- د غلبیل غُندې سورے-

پچرۍ:(پـ-چ-رۍ)اسم- واحد جمع- مؤنث- دَ کاڼي وړه ټکړه- (م- هندی ساحری.)-

پچنه:(پـ-چ-نه)اسم- واحد- مؤنث- وکورئ پچ ۲-

پچنه:(پـ-چـنه)اسم- واحد- مؤنث- وکورئ پچ ۱-

پچول:(پـ-چ-ول)مصدر- لغړول- لواړ تېرول-

پچون:(پـ-چ-ون)حاصل مصدر- وکورئ پچول-

پچونکے:(پـ-چ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پچونکي- مؤنث پچونکې- وکورئ پچول-

پچونګ:(پـ-چ-ونګ)حاصل مصدر- وکورئ پچول-

پچونه:(پـ-چ-وَنه)حاصل مصدر- وکورئ پچول-

پچوه:(پـ-چـوه)اسم صفت- پاکه- صفا- سوتره-

پچه:(پـ-چه)اسم- واحد- مؤنث- په سیند کښې دَ جمع شوو کرکو ځاۍ- جمع پچې-

پچه:(پـ-چه)اسم- واحد- مؤنث- وکورئ پچه-

پخ:(پخ)اسم- واحد- مؤنث- ټک- زخم- پرهر- شګاف-

پخوهل:(پخ-وَ-هل)مصدر- څیرل- زخم کول-

پخوهلے:(پخ-و-هلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پخوهلي- مؤنث پخوهلې- وکورئ پخوهل-

پخوهن:(پخ-وَ-هن)حاصل مصدر- وکورئ پخوهل-

پخوهنګ:(پخ-وَ-هنګ)حاصل مصدر- وکورئ پخوهل-

پخوهنه:(پخ-و-هـنه)حاصل مصدر- وکورئ پخوهل-

پخوهونکے:(پخ-وَ-هون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پخوهونکي- مؤنث پخوهونکې- وکورئ پخوهل-

پچ:(پچ)اسم- واحد- مذکر- کمک- کمات- چک- ها- د ها د جنګرلو په اصطلاح کښې دَ سر ضد- هغه ها چې وړد اړخ یَ مات وی-

پچ:(پچ)اسم- واحد- مذکر- په ښیښه، کاڼی یا اسینه نقش شوے بنګلے او معیس ګل- (ش- هندی پچی کاری)-

پچ:(پچ)اسم صفت- پوچ- ضائع- برباد- توی- عبث-

پچاړ:(پـ-چاړ)اسم صفت- فحش ګو- کنځل مار- کچرې حبرې کونکے-

پچاړ:(پـ-چاړ)اسم- واحد- مذکر- دَ مېزرو ټوکری- پچی-

پچاړه:(پـ-چا-ړه)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)دَ پچاړ مؤنث- (۲)اسم)کچره خبره- کنځل-

پچارۍ:(پـ-چا-ړۍ)اسم- جمع- مؤنث- (۱)وروستو- شا ته- هغه رسۍ یا پړے چې دَ آس وروستو پښو ته اچولے شي- پېچواړی- پچواړی- پچارړی- پیچواړی-

پچاړۍ:(پـ-چاړ-ړۍ)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وکورئ پچاړی-

پچچونکے:(پچ-پـ-چون-کے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم لوبه- ګټه-

پچ خلے:(پچ-خلے)اسم صفت- پچاړ- کنځل مار- پوچ خلے- سپکې او پوچې حبرې کونکے-

پچر:(پـ-چر)اسم- واحد- مذکر- پشتی- مات دېوال ته بنیاد سره لګولے شوے امدادی دېوال-

پچړاک:(پچ-راک)اسم- واحد- مذکر- کنړه- کېنړه- بپه- سوروزنه- بکه- سرزنه- بجره- غل لنبی- دَ پرتاګ هغه ځای چې پرتوغانې پکښې اچولے شي-

پچکلمه:(پچ-کل-مه)اسم- واحد- مؤنث- پچکولمه- دَ کډو رغېره وازګینه کولمه- جمع پچکلمې-

پچکولمه:(پچ-کول-مه)اسم- واحد- مؤنث- وکورئ پچکلمه- جمع پچکولمې-

پچموزه:(پچ-مو-زه)اسم- واحد- مؤنث- پیچموزه- ملنډه- پیشاړه- پچمه- توقه ټقالله- مسخره- خندا- پچمی- جمع پچموزی-

پچمه:(پچ-مه)اسم- واحد- مؤنث- وکورئ پچموزه- جمع پچمې-

پچمی:(پچ-مي)اسم- واحد جمع- مؤنث- پچموزې- ملنډې- پیشاړې- توقې ټقالې- پچمه-

پچن:(پـ-چن)اسم- واحد- مذکر- دَ سیند په لاره کښې دَ کاڼو جوړ شوے بند-

پچن:(پـ-چن)اسم- واحد- مذکر- (۱)سپک وجود لرونکے- په بدن کمزورے- (۲)اخچن- بدرنګ- سخا- بدشکل- (۳)په پچو لړلے- ژیاتې پچې کونکے- مؤنث پچنه- جمع مؤنث پچنې-

www pukhto net

پچنکے:(پ-چنګ-کے)اسم تصغیر- بچنګے- بچوټے- پیچوټے- ووړکے- پوتڼکے- د څناور ډېر ووړکے بچے-

پچنه:(پَ-چِنَ-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پچ- دَ حجامت چاړهٔ یا مشین- (۲)دَ حجامت لهٔ وخې پهٔ مخ زخم جوړېدنه- (۳)چرې سره زخمي کېدنه- جمع پچنې-

پچنے:(پَ-چِنَ-نے)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه سرے چې دَ علاج پهٔ غرض د مغهٔ د سدې ویه وکښلې شوې وي- (۲)پهٔ نشتر یا چاړهٔ ځیرلے زخم-

پچوار:(پچ-وار)اسم- (۱)د خسرې وروستے سر او دنبال- (۲)د بارانهٔ د بلد او سیلۍ پهٔ زور دننه راتلونکې څاڅکې- پاچړ-

پچوارې:(پچ-وا-رې)اسم- جمع- مؤنث- وګورئ پچارې-

پچوچ:(پَ-چوچ)اسم- واحد- مذکر- غمازي- جاسوسي- جمع پچوچونه-

پچوچي:(پَ-چو-چي)اسم صفت- غماز- جاسوس- راز معلوموونکے- جمع پچوچیان-

پچورے:(په-چو-رے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ټیکرے- (۲)لوپټه- (۳)څادر- جمع پچورې-

پچوره:(پَ-چو-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پچارې-

پچول:(پَ-چول)اسم- واحد- مذکر- بکرے- کیټي-

پچوے:(پَ-چو-نے)اسم صفت- پیچوټے- ډېر ووړکے- جمع پچوني-

پچوے:(پَ-چه-وے)اسم- واحد- مذکر- (۱)پېوے- (۲)دَ غوا پهٔ لکۍ ماندې دَ وښتو جوملکه- دَ غوا د لکۍ څنډے- (۳)کرورے- چابک- جمع پچوي-

پچه:(پ-چه)اسم- واحد- مؤنث- د وَنې څانګې چې دَ لهانه شوې چت دَ پاسه اچولے شي-

پچه:(پ-چه)اسم- واحد- مؤنث- د هلکانو یوه لوبه- کولشتره-

پچه:(پِه-چه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د ګوړ، چیلو، اوښانو، سویو او اوسیو وغیره فُضله چې یو خاص شکل لري- (۲)دَ بنیادم کلک او وچ بول- (۳)د ماشوم سوخې- چونې- نونې- پچې-

پچه:(پِه-چه)اسم- واحد- مؤنث- اسکه- د وېش د پاره قرعه- جمع پچې-

پچه:(پَه-چه)اسم- واحد- مؤنث- دَ بکیانۍ دَ ونې وړه غُنچه دانه- شنۍ-

پچي:(پِه-چي)اسم- واحد- مؤنث- چپي- کوکی- خوله- بوسه-

پچیر:(پ-چیز)اسم- واحد- مذکر- پچسي- د ښهیو یوه لوبه- چارخط- قطار- منزرے- زمرے-

پچي کارۍ:(پچي-کا-رۍ)اسم- واحد- مؤنث- دَ قبض دَ ماتولو دَ پاره یو پول پیره شان ستن چې د لویو بولو ځاې کښې منهلے شي- پیچکارۍ-

پچي:(پ-چي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- ټوکرې- د مېزرې نه جوړه د اوټې خلې شکرې- سکرې-

پچي:(پَ-چي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- بوچي- دَ بادرنګو، خټکو او ایندرانو وغیره کچرې-

پچي:(پَ-چي)اسم صفت- ښکلې- ګلابي- شائسته- (افغانستان)-

پخ:(پخ)اسم صفت- (۱)د تېرهٔ ضد- هغه څیز چې تېرهٔ نهٔ وي- (۲)مټه- سست- بې کاره-

پخانے:(پ-خا-نے)اسم صفت- پیخانے- نرم- خټوګکے- خټورے- بکسکے- پوهسکے- پیخې- پټوسکے- ډېر لو- ډېر ووړکے- پتحے- جمع پخانې-

پختوب:(پخ-توب)اسم- دَ پخ کېدو حالت- پخ والے- پختیا- پخېدنه-

پختیا:(پخ-تیا)اسم- وګورئ پختوب-

پخحه:(پخ-حه)اسم- پسحه- پحسه-

پخکه:(پخ-که)اسم- واحد- مؤنث- چرمه- پلو- پیڅکه- پیلڅکے- دَ قمیص یا څادر آخرې حصه- جمع پخکې-

پخکې:(پَ-خ-کي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پوڅکي-

پخنے:(پ-خ-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ پخانے-

پخوالے:(پخ-وا-لے)اسم- وګورئ پختوب-

پخول:(پهٔ-خ-ول)مصدر متعدي- دَ تېرول ضد- د غوڅولو نه ایستل- دَ چاقو- چړې دَ زیات کار لهٔ کبله خله اړول- لهٔ پرېکولو ایستل-

پخون:(پهٔ-خ-ون)حاصل مصدر- وګورئ پخول-

پخونکے:(پهٔ-خ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پخونکي- مؤنث پخونکې- وګورئ پخول-

پخونګ:(پهٔ-خ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پخول-

پخونه:(پهٔ-خ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ پخول-

پخونے:(پَ-خو-نے)اسم- وګورئ پخکي-

پخونے:(پَ-خ-و-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- پهٔ غوز کښې- ځاروه- غرے-

پخونے:(پهٔ-خ-ور-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پخوني- مؤنث پخونې- وګورئ پخول-

پخه:(پ-خه)اسم- واحد- مؤنث- پیخه- پیخکه- پخکه- د څادر، لوپټې یا قمیص اخرې کناره- لمن- پخې- چرمه- پخی-

پخېدل:(پهٔ-خې-دل)مصدر لازم- (۱)د تېره او راز تېروالے کمېدل- (۲)ټېدل- سستېدل-

پخېدن:(پهٔ-خې-دن)حاصل مصدر- وګورئ پخېدل-

پخېدنګ:(پهٔ-خې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ پخېدل-

پخېدنه:(پهٔ-خې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ پخېدل-

پخېدونکے:(پهٔ-خې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پخېدونکي- مؤنث پخېدونکې- وګورئ پخېدل-

پخېدونے:(پهٔ-خې-دو-نے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پخېدوني- مؤنث پخېدونې- وګورئ پخېدل-

پخۍ:(پ-خۍ)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ پخه-

پخ:(پخ)اسم صفت- پوخ- څنو مرکبو فعلونو کښې د پوخ پهٔ ځاې استعمالېدونکے مخفف لکه پخکړے، پخ شوے-

پخ:(پخ)اسم صوت- د ماشومانو د وېرولو اواز- د پیشو د حملې پهٔ وخت یا

www.pukhto.net

لۀ ویری اواز- دَ خندا پۀ وخت لۀ پوزی وتونکے اواز-

پخ:(پخ)اسم- واحد- مذکر- لومه- زندی- تېرندی- کمند- پانسی- دام-

پخ:(پخ)صفت/اسم- (۱)پک- کنجے- (۲)پختتوب- پمن والے- کنجے توب-

پخ:(پخ)اسم- واحد- مذکر- دَ اوښانو یوه بیماری- پَم-

پخانی:(پَ-خا-نی)اسم- جمع- مونث- پخاړې- مښاوې- د کږو د لم لاندې پۀ وری پوری ښتې اوږاندی پچې-

پخ پخ:(پخ پخ)اسم صوت- دَ غلې غلې خندا اواز-

پخ پخ:(پخ-پخ)اسم- کږه (د ماشومونو پۀ ژبه)- (افغانستان)-

پخ پوخ:(پخ-پوخ)اسم صوت- تح توخ- پخ پخ- اُخ توخ-

پختکه:(پخ-ت-که)اسم- واحد- مؤنث- کوتره- کونتره- کوکو کوتره- کرکوشتکه- کورکوره- فاخته- بیرعه- بابغه- جمع پختکې-

پختگی:(پخ-ت-گی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ "پخته" کېدو حالت- کلکوالے- پخوالے- مضبوط والے- (۲)هوښیاری- تجربه کاری-

پختن:(پخ-تن)اسم- واحد- مذکر- پخلے- پوخوالے- زږبدنه- پخېدنه-

پخته:(پخ-ته)اسم صفت- (۱)پوخ- (۲)کلک- مضبوط-

پخته کار:(پخ-ته-کار)اسم صفت- واحد- مذکر- تجربه کار- هوښیار- سیانه- جهان دیده- گوخېدلے- جمع پخته کاران- مؤنث پخته کاره- جمع مؤنث پخته کارې-

پختین:(پخ-تین)اسم- پخلے- د اخلی پخلی چل- دَ پخولو طریقه-

پخچکی:(پخ-چ-کی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وگوری پخکی-

پخری:(پخ-ری)اسم- بې اجرته کار- بې مزده کار- بیگار-

پخری:(پخ-ری)اسم- واحد/جمع- مذکر- یو قسم سپین قندهاری انگور-

پخړے:(پخ-ړے)اسم- واحد- مذکر- کودرے- کوونے- ټوکره- دَ لوښی ماته ټوټه-

پخړن:(پخ-ړن)اسم صفت- خړن- چخن- پخړن- چخړلے- چیخن- څړیخے- چوخړن- چوخن- خچن- ستړگې لړونکے-

پخړې:(پخ-ړې)اسم- جمع- مؤنث- چیخې- چخې- څړیخې- چوخړی-

پخساک:(پخ-ساک)اسم- واحد- مذکر- پسخاک- کړاک- کړاو- زړۀ چاودون- څوارق- خوراک-

پخساکی:(پخ-سا-کی)اسم صفت- دَ پخساک سره متعلق- وگوری پخساک-

پخسله:(پخ-سله)اسم- واحد- مؤنث- پخه خښته- جمع پخسلې-

پخسول:(پخ-س-ول)مصدر- پسخول- زمیره ول- خوروول- زړۀ کښې شوق پیدا کول- لالچ ورکول- رغبت ورکول-

پخسولے:(پخ-س-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پخسولی- مؤنث پخسولې- وگوری پخسول-

پخسون:(پخ-س-ون)حاصل مصدر- وگوری پخسول-

پخسونکے:(پخ-س-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پخسونکی- مؤنث پخسونکې- وگوری پخسول-

پخسونگ:(پخ-س-ونگ)حاصل مصدر- وگوری پخسول-

پخسونه:(پخ-س-و-نه)حاصل مصدر- وگوری پخسول-

پخسونے:(پخ-س-و-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پخسونی- مؤنث پخسونې- وگوری پخسول-

پخسه:(پخ-سه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پخمه- پسخه- خمبیره شوې خټه- د خمبیره شوې خټې چمان- (۲)پخې شوی خټه وریږې- جمع پخسې/پخساوې-

پخسیه:(پخ-سیا)اسم صفت- (۱)سیال- (۲)پیهدونکے- (۳)ابرن- اُبلن- خوږین خیر-

پخسېدل:(پخ-سې-دل)مصدر لازم- پسخېدل- زېرېدل- لالچ ورکېدل- زړۀ کښې شوق پیدا کېدل-

پخسېدلے:(پخ-سې-د-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پخسېدلی- مؤنث پخسېدلې- وگوری پخسېدل-

پخسېدن:(پخ-سې-دن)حاصل مصدر- وگوری پخسېدل-

پخسېدنگ:(پخ-سې-دنگ)حاصل مصدر- وگوری پخسېدل-

پخسېدنه:(پخ-سې-د-نه)حاصل مصدر- وگوری پخسېدل-

پخسېدونکے:(پخ-سې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پخسېدونکی- مؤنث پخسېدونکې- وگوری پخسېدل-

پخسېدۀ:(پخ-سې-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وگوری پخسېدل-

پخسے:(پخ-سے)اسم- واحد- مذکر- الکوږے- اوی کږی- ارگوږے- جمع پخسی-

پخشاک:(پخ-شاک)اسم- وگوری پخساک-

پخښو:(پ-ښو)اسم مفعول- دَ "پخښلی شوی" متروک شکل-

پخک:(پ-خک)اسم- واحد- مذکر- کږ- پسخ-(دَ ماشومانو پۀ ژبه)-

پخکړے:(پخ-کړ-ے)اسم- واحد- مذکر- نکولے- بوږ- لمدُ بل- لاون- سالن- سالن- پوروونے- ترکاری- پخه کړے شوې ترکاری- جمع پخکړی-

پخکنے:(پخ-کنے)اسم صفت- پخنانے- مشروتیے- مشروتک- هغه ماشوم چې پخې پخې خبرې کوی- جمع پخکنی-

پخکی:(پخ-کی)اسم- واحد- مؤنث- دَ ماشومانو دَ ویرولو اواز-

پخل:(پ-خل)مصدر- دَ دَرمند کېدی وښتل-

پخل:(پ-خل)مصدر- پۀ وتره زمکه کښې دَ شولو دَ پټی جوړولو دَ پاره وتره پټی کښې غوایان گرځول-

پخلا:(پخ-لا)اسم صفت- د مرور ضد- رضا- دلاسه- خوښ- خوشحاله-

پخلاتوب:(پخ-لا-توب)اسم- وگوری پخلا والے-

پخلا والے:(پخ-لا-وا-لے)اسم- جوړه- صلح- دَ "مرورتیا" ضد- راضی نامه- دلاسه کونه- پخلاتوب- رضا کېدنه- سره جوړېدنه-

پخلاوے:(پخ-لا-وے)اسم- واحد- مذکر- اشپز- باورچی- پخونکے- پخاوے-

زور (ح-میځ-ره)، وووکے (شل)، تهیش (تو-کا-ره)، زمر (ک-ساب)، تحزم (شکوپ)، ۀ (و-ړه)، ۀ (پو-سې-دۀ)

www.pukhto.net

لنکری- بټیارے- (افغانستان)- جمع پخلاوی-

پخلکے:(پخ-ل-کے)اسم تصغیر- پخناتے- مشروټ ماشوم- پخنیے- جمع پخلکی-

پخلن:(پخ-لن)اسم- پختن- پختین- نکولے- پخکړے- پخلنګ-

پخلنه:(پخ-لہ-نه)حاصل مصدر- وګوری: پخل-

پخله:(پ-خهٔ-له)اسم- واحد- مؤنث- پخلي- توره ټوخلي- شنه ټوخلي- بانګي ټوخلي- دَ ماشومانو دَ ټوخي بیماری-

پخله:(پخ-له)اسم- مؤنث- هغه پخي یا پاتې چې دَ غنمو دلو نه وروستو د غنمو په وړ کښې پاتې وی- دَ درروزي پم- (افغانستان)-

پخلی:(پخ-لی)اسم- جمع- چخړي- چخي- دَ سترګو چخي- چوخړي-

پخلیت:(پخ-لیت)اسم- د عمر پخوالے-

پخلے:(پخ-لے)اسم- واحد- مذکر- دَ "پحول" مصدر نه اسم- (۱)اخلے پخلے- انډی کونډی- (۲)تاکید- پښتی- کلکوالے- جمع پخلي-

پخن:(پهٔ-خن)اسم صفت- (۱)کنجے- پهٔ سر کښې پخې لرونکے- (۲)پشم دار- (۲)پنې یا پخې لرونکے- (افغانستان)-

پخن:(پ-خن)صفت- تړس- کلک څیزونه لکه اُمینه، کانی وغیره- (افغانستان)-

پخن:(پهٔ-خن)حاصل مصدر- وګوری: پخل ۱-

پخن:(پهٔ-خن)حاصل مصدر- وګوری: پخل ۲-

پخناتے:(پخ-نا-تے)اسم صفت- پخنیے- پوخناتے- مشروټ- مشروټال- پخنوکے- پخکے-

پخندے:(پ-خن-دے)اسم- واحد- مذکر- دَ پیتو یو پسرل- جمع پخندی-

پخنګ:(پهٔ-خنګ)حاصل مصدر- وګوری: پخل ۱-

پخنګ:(پهٔ-خنګ)حاصل مصدر- وګوری: پخل ۲-

پخنوکے:(پخ-نو-کے)اسم صفت- وګوری: پخناتے-

پخنه:(پ-خهٔ-نه)اسم- واحد- مؤنث- یو تریخ بوټے چې دَ خټکو، ایدرانو د بوټو پهٔ وېخ کښې پهٔ دې غرض بخولے شی چې بوټي دَ چینجو نه بچ شی- بوریه- غوربزه-

پخنی:(پخ-نی)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: چنی-

پخنیے:(پخ-نیے)اسم صفت- وګوری: پخناتے- جمع پخنی-

پخنې:(پخ-نې)اسم صفت- واحد/جمع- مؤنث- دَ "پخنیے" مؤنث-

پخوا:(پخ-وا)صفت/متعلق فعل- (۱)تېره شوې زمانه- (۲)هغه واقعه چې دَ حال لهٔ زمانې مخکښې شوې وی- (۲)اګاهو- اول- وړومبے (دَ زمانې پهٔ لحاظ)- (۴)دَ اوس ضد-

پخوالے:(پخ-وا-لے)اسم- (۱)دَ اوم والی ضد- پخلے- (۲)تاکید- کلکوالے- مضبوطیا-

پخوانے:(پخ-وا-نے)صفت- دَ اوسنی ضد- لرغونے- ترغوسے- ځنډنے- وړومبے- مخکښینے- جمع پخوانی-

پخوانۍ:(پخ-وا-نۍ)صفت- دَ "پخوانے" مؤنث-

پخوړ:(پ-خوړ)اسم- واحد- مذکر- د شربت، شیرې او داسې نورو څیزونو پاتې شوی اثهٔ- پس آب-

پخوړ (پ-خوړ) اسم- حسسه- تشپخته- پخوړ- د کپړو یا بل کوم داسې څیز په اثهٔ اسینه- (افغانستان)-

پخوړل:(پهٔ-خو-ړل)مصدر متعدی- وګوری: پخوړول-

پخوړلے:(پ-خو-ړ-ڵے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پخوړلی- مؤنث پخوړلې- وګوری: پخوړل-

پخوړن:(پ-خو-ړن)حاصل مصدر- وګوری: پخوړل-

پخوړنګ:(پ-خو-ړنګ)حاصل مصدر- وګوری: پخوړل-

پخوړنه:(پ-خو-ړ-نه)حاصل مصدر- وګوری: پخوړل-

پخوړول:(پ-خو-ړ-ول)مصدر متعدی- پخوړل- د څهٔ څیز نه دَ تاوولو پهٔ ذریعه اُبهٔ ایستل- نښبخل- نښتخل- (افغانستان)-

پخوړونکے:(پ-خو-ړ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پخوړونکی- مؤنث پخوړونکې- وګوری: پخوړول-

پخول:(پ-خ-ول)مصدر- (۱) دَ "پوخ" نه متعدی مصدر- وګوری: پوخ- (۲)دَ خبرې کلکول او ټینګول- ژبه کول- وعده کول- پهٔ څهٔ کار کښې ماهر کول-

پخوله:(پ-خو-له)اسم- واحد- مؤنث- پخله- توره غاړه- شنه تخلې- پخولې- بانګی ټوخلي- پخولې- پُخلې- دَ ټوخی یو قسم- جمع پخولې-

پخولیا:(پ-خول-یا)اسم- واحد- مذکر- پُخلا- راضی-

پخولې:(پ-خو-لې)اسم- مؤنث- وګوری: پخوله-

پخون:(پ-خ-ون)حاصل مصدر- وګوری: پخول-

پخوندے:(پ-خن-دے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ ښارو دَ پښو تړلو کړی- (۲)دَ تنې کاج-

پخوندے:(پ-خن-دے)اسم- واحد- مذکر- پخندے- یو قسم پسرل- جمع پخوندی-

پخونکے:(پ-خ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پخونکی- مؤنث پخونکې- وګوری: پخول-

پخونګ:(پ-خ-ونګ)حاصل مصدر- وګوری: پخول-

پخونګړ:(پ-خونګ-ګړ)اسم- واحد- مذکر- تونه- توټکه- کوړې- جمع پخونګړی-

پخونه:(پ-خ-و-نه)حاصل مصدر- وګوری: پخول-

پخونے:(پ-خ-وو-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پخونی- مؤنث پخونې- وګوری: پخول-

پخه:(پ-خه)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)دَ "پوخ" مؤنث- پهٔ اور حرارت یا وخت تیاره شوې- سری لوی- پخه شوې- (۲)کلکه- (دَ خبرې دَ پاره)- (۲)عمر خوړلې- بوډۍ- زړه- (۴)پخناتې- جمع پخې-

پخه:(پهٔ-خه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ ګنجې د سر د دانو پخنې- (۲)وفا- بفا- (۲)خشکی- دَ وېښتو یوه بیماری چې د هغې پهٔ وجه پهٔ سر کښې

www.pukhto.net

سپين سپين بوس راپيدا شي- جمع پخي-

پخه:(پ-خه)اسم- واحد- مؤنث- پانه- کولی- بنه- جمع پخي-

پخه ورته:(پـ-خه-ورـته)اسم صفت- واحد- مؤنث- سوي لوی- سختو او تاړاکونو وهلی- چي دَ چا رنګ او جوثه دَ سختيو او خواريو لهٔ کبله تکه توره، مخ بې وخته ګونجي ګونجي، کوت کوت او غرمن پخه شوي وی-

پخيل:(پ-خي-يل)مصدر- خوله راوستل- پهٔ مريض باندې خوله راوستل- ناروغه خولي کول- پرخيل- پرخيال- پرخبيل-

پخېدل:(پ-خې-دل)مصدر لازم- دَ بدن دَ غړو حصو دَ بيمارۍ پهٔ وجه سور رنګ اختيارول-

پخېدل:(پـ-خې-دل)حاصل مصدر ،لازم- (۱)دَ اوم څيز پهٔ اور يا پهٔ بل حرارت يا دَ وخت پهٔ نتيجه کښې تکميل ته رسېدل- دَ خوړلو دَ څيز دَ خوراک دَ پاره تيارېدل- (۲)پهٔ عمر کښې زوړوالی ته رسېدل- (۳)دَ ميوې يا فصل شوکولو يا لوُ ته جوړېدل- (۴)دَ دانې يا ننکې نه نوُ (زوه) راتلل- (۵)پهٔ زړهٔ کښې کرکه يا نفرت پيدا کېدل- ډېر زيات تنګېدل- (۶)دَ بدن دَ غړو اندامونو يو بل سره دَ لګېدو يا بل کوم وجې لهٔ کبله سرهٔ کېدل-

پخېدل:(پ-خې-دل)مصدر لازم- پهٔ پخ پخ خندل- خټکېدل- کټېدل-

پخېدن:(پ-خې-دن)حاصل مصدر- وګورئ پخېدل-

پخېدن:(پ-خې-دن)حاصل مصدر- وګورئ پخېدل-

پخېدنګ:(پ-خې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ پخېدل-

پخېدنګ:(پ-خې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ پخېدل-

پخېدنه:(پ-خې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ پخېدل-

پخېدنه:(پ-خې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ پخېدل-

پخېدونکے:(پ-خې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پخېدونکي- مؤنث پخېدونکې- وګورئ پخېدل-

پخېدونکے:(پ-خې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پخېدونکي- مؤنث پخېدونکې- وګورئ پخېدل-

پخېدونے:(پ-خې-دو-نے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پخېدوني- مؤنث پخېدونې- وګورئ پخېدل-

پخېدونے:(پ-خې-دو-نے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پخېدوني- مؤنث پخېدونې- وګورئ پخېدل-

پخېدهٔ:(پ-خې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ پخېدل-

پخېدهٔ:(پ-خې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ پخېدل-

پخېل:(پ-خېل)اسم- واحد- مذکر- خوله- بخارات- براس-

پخے:(پهٔ-خے)اسم صفت- ګنجے- پخې لرونکے- پمن- پک- خارښتي- جمع پخي پخيان-

پخے:(پ-خے)اسم- واحد- مذکر- (۱)نوے نوے پهٔ خبره راغلے ماشوم- (۲)دَ اد ماشومانو ژبه)-

پدائے:(پ-دا-ئے)اسم صفت- کنداس-

پدر:(پ-در)اسم- واحد- مذکر- ابا- پلار (عام طور سره ئ ميانڈی خپلو خاصو ته دَ خپل خاوند پهٔ باره کښې طنزاً وائي)- (م- فارسي)-

پدرانه:(پ-در-انه)صفت متعلق فعل- "پدر" سره متعلق- دَ پلار پهٔ شان-

پدره:(پد-ره)صفت- هوار- غلورګټيز- چورس- مېين- يو غلور ګټيز هوار او مېين شے-

پدری:(پ-در-ی)اسم- پدر سره سمت لرونکے- دَ پلار لهٔ خوا-

پدل:(پ-دل)اسم- واحد- مذکر- دَ "فضل" مغفن- انعام- قدر- عنايت- عطاء- رحم- فضيلت- (م- فضل عربي)-

پدل:(پ-دل)اسم- واحد- مذکر- اثر- اغېزه-

پدم:(پ-دم)اسم- واحد- مذکر- يو زر کروړه-

پدم:(پ-دم)اسم- واحد- مذکر- کنځک دار مار-

پدمنی:(پد-م-نی)اسم صفت- واحد جمع- مؤنث- (۱)دَ ښځو پهٔ غلورو قسمونو کښې يو قسم چي خوشحال بابا ئ ترجمه "ګل اندامه" کړې ده- (سنسکرت کښې پدم دَ نيلوفر ګل ته هم وائي- (۲)ناشسته ښځه چي دَ عامو خلقو ، عقيدې مطابق پهٔ چوارېلو کښې پيدا کيږي-

پدول:(پ-دول)اسم صفت- رهب- عماز- لمسونکے- چغلی کونکے-

پدولی:(پ-دو-لی)اسم- واحد- مؤنث- دَ "پدول" کار او رويه- چغلی- شيطاني- غمازي- جمع پدولياني-

پدی:(پ-دی)اسم- واحد- مذکر- چتے- (مروت)-

پدی:(پ-دی)اسم- واحد- مؤنث- دَ "پدائے" مؤنث- کنداسه-

پديد:(پ-ديد)صفت- ښکاره- ظاهر- نمايان- (م- فارسي)-

پديده:(پ-دی-ده)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پېښه- حادثه- حالت- واقعه- (۲)هغه څيز چي طول، عرض او حجم لري- (افغانستان)- جمع پديدې-

پدوان:(پ-دا-ون)اسم صفت- تېزن- تيزن- تېزاوې- (م- هندی)-

پډو:(پ-ډو)اسم- واحد- مذکر- غرنېزه ګنجي- پېنګ- کجيره- مودمه پک سابه- يو مُردارخور مارغهٔ- جمع پډوګان-

پره:(پ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- دَ ولې يو ځنګلي قسم چي بېکاره کڼلے شي- وله- سره وله- زېړه وله- جمع پړې-

پړے:(پ-ړے)اسم صفت- کجے- چوړے- پېړے- کجل- کچل- کړې پښې لرونکے- جمع پړي-

پر:(پر)اسم- واحد- مذکر- بڼکه- وزر- بڼه- کونځر- پخه- کوکو- (م- فارسي)-

پر:(پر)اسم صوت- (۱)دَ الوتو پهٔ وخت کښې دَ مرغو دَ وزرو اواز- (۲)حرکت-

پر:(پر)اسم- واحد- مذکر- بوګال- دَ لوخې ګل- دَ بيلو ببيل-

پر:(پر)ضمير منفصل- دپاسه- ملدی- دَ پاسه-

زمر (ج-سفـ-ره) ، زوروکبر (شل) ، پېښ (مو-کا-ره) ، زمر (کـ-مات) ، جزم (سکون) ، ه (ر-ړه) ، ۀ (پو-سې-دۀ)

www.pukhto.net

پړ:(پړ)اسم/متعلق فعل- لحظه- لږ وخت- فوراً-

پړ:(پړ)حرف- دَ ملامتیا کلمه- ځر- دَ تضحیک توری-

پړ:(پړ)اسم- واحد- مذکر- دَ خالی ضد- ډک- پوره- پرچق- (م- فارسی)-

پرابسته:(پ-را-بس-ته)اسم- صف بندی- جنګ-

پراتهٔ:(پرا-تهٔ)اسم- جمع- مذکر- (۱)دَ "پروت" جمع- غزېدلی- څملاستلی- اودهٔ- (۲)ایښودے شوی- (۲)سست- سکاره- لټان-

پراته:(پرا-تهٔ)اسم صفت- عبث- فضول- چټی-

پراټل:(پرا-ټل)مصدر متعدی- (۱)زخمی کول- (۲)رټل-

پراټلے:(پرا-ټهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پراټلی- مؤنث پراټلې- وګورئ پراټل-

پراټن:(پرا-ټن)حاصل مصدر- وګورئ پراټل-

پراټنګ:(پرا-ټنګ)حاصل مصدر- وګورئ پراټل-

پراټنه:(پرا-ټهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پراټل-

پراټونکے:(پرا-ټون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پراټونکی- مؤنث پراټونکې- وګورئ پراټل-

پراټه:(پ-را-ټه)اسم- واحد- مؤنث- هغه روغنی روټۍ چې عام طور سره پهٔ تبخی یا کړیچی کښې پهٔ غوړو کښې پخولے شی- دَ تنور پراټه کښې غوړی پهٔ اوړو کښې او دَ تبخی یا کړیځی پراټه کښې پهٔ تبخی یا کړیچی کښې اچولے شی-

پراټیس:(پ-را-ټیس)اسم- وګورئ پرېکټس- (م- انګریزی)-

پراجېکټ:(پرا-جېکټ)اسم- واحد- مذکر- منصوبه- دَ یو خاص وخت دَ پاره جوړه شوې منصوبه- پروژه (افغانستان)- (م- انګریزی)-

پراچکی:(پ-راچ-کی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پراچکه-

پراچک:(پ-را-چک)اسم- واحد- مذکر- پارچه- پرچه- ټوکره-

پراچکه:(پ-راچ-که-نه)اسم- واحد- مؤنث- دَ "پراچه" مؤنث- وګورئ پراچه- پراچکی-

پراچکے:(پ-راچ-کے)اسم تصغیر- (۱)وړوکے سوداګر- وړوکے تاجر- (۲)دَ پراچه تصغیر- پراچکوټے- جمع پراچکی-

پراچه:(پ-را-چه)اسم- واحد- مذکر- (۱)سوداګر- پرېچه- پرانچه- (۲)کرایه کښ- چې پهٔ کرایه مالونه پهٔ خرو یا خچرو وړی- (۲)هغه هندو چې مسلمان شوے وی او بیا هم دوکان کوی-

پراچه:(پ-را-چه)اسم صفت- پرانچه- بې لحاظه- بې مخه- چالاک- جمع پراچګان- مؤنث پراچکی-

پراخ:(پ-راخ)اسم صفت- (۱)فراخ- پراخ- ارت- پلن- وسیع- (۲)ډېر زیات- لوئی لوئی سپېومې لرونکے- (م- فارسی)-

پراختوب:(پ-راخ-توب)اسم- (۱)وسعت- پراختیا- پراخوالے- پلن والے- ارتوالے- (۲)ډېروالے- زیاتوالے- (۲)خوشحالی-

پراختیا:(پ-راخ-تیا)اسم- وګورئ پراختوب-

پراخوالے:(پ-راخ-وا-لے)اسم- وګورئ پراختوب-

پراخول:(پ-را-خ-ول)مصدر متعدی- (۱)ارتول- وسعت ورکول- پلنول- وسیع کول- (۲)ډېرول- زیاتول-

پراخون:(پ-را-خ-ون)حاصل مصدر- وګورئ پراخول-

پراخونکے:(پ-را-خ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پراخونکی- مؤنث پراخونکې- وګورئ پراخول-

پراخونګ:(پ-را-خ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پراخول-

پراخونه:(پ-را-خ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ پراخول-

پراخی:(پ-را-خی)اسم- واحد- مؤنث- دَ "پراخ" کېدو حالت- فراخی- زیات والے- ارزانی- کشادګی-

پراخېدل:(پ-را-خې-دل)مصدر لازم- (۱)ارتېدل- ارت کېدل- پلنېدل- پلن والے پیدا کېدل- وسیع کېدل- وسعت موندل- (۲)زیاتېدل- ډېرېدل-

پراخېدن:(پ-را-خې-دن)حاصل مصدر- وګورئ پراخېدل-

پراخېدنګ:(پ-را-خې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ پراخېدل-

پراخېدنه:(پ-را-خې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ پراخېدل-

پراخېدهٔ:(پ-را-خې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ پراخېدل-

پراد:(پ-راد)اسم- واحد- مذکر- دَ غنمو جوارو دَ لو پهٔ موقع پهٔ پټی کښې دَ ریبلو غنمو او جوارو قطار- پراز- جمع پرادونه-

پراوه:(پ-را-وه)اسم- واحد- مؤنث- تسمه- دَ هر څیز وړه ټوکره-

پراوه:(پ-را-وه)اسم صفت- څټې- فضول- عبث- جمع پراوې-

پرار:(پ-رار)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ "پرهر" یو قرات- (۲)فرار شوے- تښتېدلے- (افغانستان)- (م- عربی)-

پرار:(پهٔ-رار)اسم صوت- دَ چورلندی- ډمبرې یا مچی دَ وززو اواز-

پراربانه:(پ-رار-بانه)اسم- واحد- مؤنث- پرهر بانه- کږه بانه- دَ بارتنګ بانه- (افغانستان)- جمع پراربانې-

پرارتوب:(پ-رار-توب)اسم- پرارتیا- تښتېدنه- لهٔ ملکه وتنه-

پرارتیا:(پ-رار-تیا)اسم- وګورئ پرارتوب-

پرارژلے:(پ-رار-ژلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- زخمی- مجروح- پرهارژلے- جمع پرارژلی-

پرارول:(پ-را-رول)مصدر متعدی- تښتول- لهٔ وطنه ایستل- شړل-

پرارونه:(پ-را-رو-نه)حاصل مصدر- وګورئ پرارول-

پراری:(پ-را-ری)اسم صفت- تښتېدلے- فرار شوے- دَ جرم لهٔ وېرې پټ شوے- مفرور- محرور-

پراری:(پ-را-ری)اسم- پرهری- پرهر لرونکے- زخمی-

پرارېدل:(پ-را-رې-دل)مصدر لازم- څغلېدل- فرارېدل- تښتېدل-

پرارېدنه:(پ-را-رې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ پرارېدل-

پرارېدهٔ:(پ-را-رې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب

www.pukhto.net

میفه- وګورئ پراړېدل-

پراړول:(پ-را-ړ-ول)مصدر- زباتول- زباډول-

پراړولے:(پ-را-ړ-وڼ-لے)اسم معمول- واحد- مذکر- جمع پراړولی- مؤنث پراړولې- وګورئ پراړول-

پراړون:(پ-را-ړ-ون)حاصل مصدر- وګورئ پراړول-

پراړونکے:(پ-را-ړ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پراړونکی- مؤنث پراړونکې- وګورئ پراړول-

پراړونګ:(پ-را-ړ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پراړول-

پراړونه:(پ-را-ړ-وڼ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پراړول-

پراز:(پ-راز)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پراړ- جمع پرازونه-

پراشوټ:(پ-را-شوټ)اسم- هوائی چترۍ- پېراشوټ- د فوځیانو د استعمال یوه چترۍ چې هغوی پرې د جهاز نه لاندې زمکې ته راکوزیږی- جمع پراشوټونه- (م- انګریزی)- (افغانستان)-

پراګراف:(پ-را-ګراف)اسم- واحد- مذکر- بند- پېراګراف- د لیک د یوې سُرخی ټپلټون- جمع پراګرافونه- (م- انګریزی)- (افغانستان)-

پراګندګی:(پ-را-ګند-ګی)اسم- پریشانی- انتشار- تشویش- (م- فارسی)-

پراګنده:(پ-را-ګن-ده)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- منتشر- پریشان- (م- فارسی)-

پرالما:(پرال-ما)اسم- واحد- مؤنث- لعن طعن- چیرچاړ- جمع پرالمې-

پرانت:(پرا-نت)فعل- پرانست- (پرانستل نه ماضی مطلق)-

پرانتل:(پرا-ن-تل)مصدر- پرانستل- بیرته کول- ایله کول- څرګندول- برڅېره کول- خلاصول-

پرانتلے:(پرا-ن-تڼ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پرانتلی- مؤنث پرانتلې- وګورئ پرانتل-

پرانتنه:(پرا-ن-تڼ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پرانتل-

پرانتے:(پرا-ن-تے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پرانتی- مؤنث پرانتې- وګورئ پرانتل-

پرانچه:(پ-ران-چه)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پراچه-

پرانست:(پرا-نست)اسم- وګورئ پرانت-

پرانستل:(پرا-نس-تل)مصدر- پرانتل- خلاصول- سپړدل- څرګندول- پرانیځل- پرانیستل-

پرانستلے:(پرا-نس-تڼ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پرانستلی- مؤنث پرانستلې- وګورئ پرانستل-

پرانستنه:(پرا-نس-تڼ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پرانستل-

پرانستونکے:(پرا-نس-تون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پرانستونکی- مؤنث پرانستونکې- وګورئ پرانستل-

پرانیتل:(پرا-نی-تل)مصدر- وګورئ پرانتل-

پرانیتلے:(پرا-نی-تڼ-لے)اسم معمول- واحد- مذکر- جمع پرانیتلی- مؤنث پرانیتلې- وګورئ پرانیتل-

پرانیتنه:(پرا-نی-تڼ-نه) حاصل مصدر- وګورئ پرانیتل-

پرانیتونکے:(پرا-نی-تون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پرانیتونکی- مؤنث پرانیتونکې- وګورئ پرانیتل-

پرانیتے:(پرا-نی-تے)اسم معمول/صفت- واحد- مذکر- جمع پرانیتی- مؤنث پرانیتې- وګورئ پرانیتل-

پرانیځل:(پرا-نی-ځل)مصدر- د پرانستل عامیانه قرأت-

پرانیستل:(پرا-نیس-تل)مصدر- وګورئ پرانستل-

پرانیستونکے:(پرا-نیس-تون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پرانیستونکی- مؤنث پرانیستونکې- وګورئ پرانستل-

پرانیستنه:(پرا-نیس-تڼ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پرانستل-

پرانیسه:(پرا-نیس-ته)اسم- د "پرانیستل" مصدر نه اسم- وګورئ پرانستل-

پرانیسته:(پرا-نیس-ته)حاصل مصدر- وګورئ پرانیستل-

پرانیستے:(پرا-نیس-تے)اسم مفعول/صفت- واحد- مذکر- جمع پرانیستی- مؤنث پرانیستې- وګورئ پرانستل-

پراو:(پراو)اسم- واحد- مذکر- د ښوروا وغیره نه پاتې شوې اُبه- کنوبے- کونوبے-

پراوړے:(پرا-وړے)اسم- واحد- مذکر- د پوره ورې "قرضداری" وزیری لهجه-

پراویز:(پ-را-ویز)اسم- واحد- مذکر- (۱)جربل- د منهاږ دیوال- د سربندی د مخامخ تخته- (۲)چاوډ- جدائی- (۳)د لوبټې، څادر وغیره هغه پیڅه یا څنډه چې ورته فیته یا بله کومه ګلداره کېږه لګېدلې وی- (کوئټه)-

پرایمری:(پرا-یم-ری)صفت- (۱)ابتدائی- اولے- (۲)د تعلیم او مدرسې د صعت په طور استعمالیږی-

پربله:(پر-بڼ-له)حرف جار- په یو بل- (متروک)-

پرپاتو:(پر-پا-تو)اسم- واحد- مذکر- (۱)پرماتین- مره غنې- نباتاتی نوم کوکوسیس کوکومین تهس- (۲)زقوم- نباتاتی نوم یوموربیاایتی کورم-

پرپته:(پر-پڼ-ته)اسم- واحد- مؤنث- دړک- پته- نښه- ځای- پل لټون- تفتیش- سراغ- منږ-

پرپر:(پر-پر)اسم صوت- (۱)پړاو- ترتر- پرپر- دروړ- (۲)ترپر- ترترز- یو قسم اواز او غږ-

پرپرانی:(پر-پړ-را-نی)اسم صفت- پرپرے- پرپر کونکے-

پرپرک:(پر-پڼ-رک)اسم صوت- د وزرو وهلو آواز- د مرغانو د وزرو ښورولو اواز-

پرپرکے:(پر-پر-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)پرے- یو قسم وزر لرونکے چینجے چې اکثر په کنو کښې پیدا کیږی او فصل ته نقصان رسوی- (۲)د ماشومانو د پاره د اسپنې نه جوړ چکر وهونکے پرپدار د لوبو څیز- (۳)د کاغذ نه جوړ د ماشومانو د لوبو یو څیز چې پکښې پکے اچولے او بیا د هوا په زور چکر ورکولے شی- (۴)د هوائی جهاز موټر وغیره هغه پرزه چې

زبر "(ح-سڼ-ره)، وورکے"(شل)، پېش"(نو-کا-ره)، زور"(ک-تاب)، جزم"(شکوب)، "ه"(و-ړه)، "ۀ"(پو-ښې-دڼه)

www.pukhto.net

دَ خپل چکر پهٔ ذریعه مشین پهٔ حرکت کښې راولي۔

پرپړے:(پر-پـړے)اسم صوت۔ دَ مرغو دَ وزرو اواز۔

پرپړے:(پر-پـړے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ ټوکه۔ ټوټه۔ شټی۔ دَ جوارو دَ وړی مغه شکل چې دانې ترې رژېدلی وی۔ جمع پرپړی۔

پرپوټ:(پر-پوټ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ خپل ژړا فریاد، کړاؤ او سخته بیانونه۔

پرپېچ:(پر-پېچ)اسم صفت۔ لهٔ پېچونو ډک۔ تاو را تاؤ۔ پېچدار۔ ول ول۔ کوږ وږ۔ ګلکوټی۔ (م۔ فارسی)۔

پرپېره:(پر-پې-ړه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ خرېړے۔ پوڅکی۔ ډینګری۔ مرخېړی۔ دوړنے۔ ډېرنګ۔ خومبه۔ کوبلکه۔ کوچے۔ ستورے۔

پرپے:(پر-پے)متعلق فعل۔ پهٔ رس کښې۔ پهٔ قبضه کښې۔ (افغانستان)۔

پرت:(پـرت)اسم صفت۔ (۱)بې حیا۔ فضول۔ سست۔ (۲)شنډ۔

پرت:(پرت)اسم صوت۔ (۱)چرت۔ دَ ټوکاڼو ټوکلو آواز۔ (۲)ټرت۔ دَ تېز اواز۔ (۳)دَ ملامت کولو آواز۔

پرت:(پـرت)اسم صفت۔ بندیوان۔ بند۔ تړلے شوے۔

پرتاب:(پر-تاب)اسم۔ (۱)مغه غشے چې تر لرې ځی۔ (۲)پرتاب۔ پرتاو۔ غورزېدنه۔ لاندې پرېوتنه۔ ارتاوېدنه۔ (م۔ فارسی)۔

پرتاب:(پر-تاب)اسم۔ دَ غشی لهٔ لیندې نه دَ پرېوتو تر ځایه فاصله۔ (م۔ فارسی)۔

پرتاکهٔ:(پر-تا-کهٔ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دَ "پرتوګ" مغیّره شکل۔

پرتال:(پر-تال)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دَ پرتال دوېم قرأت۔ لټون۔ لټونه۔ غور۔ (م۔ هندی)۔

پرتاؤ:(پر-تاؤ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ لرتاؤ۔ اړتاؤ۔ لرې غورزونه۔ پهٔ تادی ویشتنه۔ برتاؤ۔ جمع پرتاوونه۔

پرت پرت:(پرت-پرت)اسم صوت۔ پرت پروت۔ پرتـار۔ دَ تیزونو اواز۔ (مصدر۔ کول)۔

پرت پروت:(پرت-پروت)اسم صوت۔ وګورئ پرت پرت۔

پرتکه:(پر-ت-که)اسم۔ پرتکه۔ ترپکه۔ پرمېدنه۔ مغه اواز چې مارغهٔ يې لهٔ وزرو دَ نیولو یا دَ حلالېدلو پهٔ نتیجه کښې پیدا کوی۔ جمع پرتکې۔

پرتل:(پر-تل)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)پېش خانه۔ مغه سامان چې کوچیان يې دَ کوچ نه مخکښې لیږی۔ (۲)دَ ملڅومانو دَ بلورو، غزانو لوبه۔ (۳)دَ غزانو دَ لوبې یوه اصطلاح چې دَ ټیک دَ ایسارولو دَ پاره دَ خوښې دَ استعمال اظهار ترې کیږی۔ (۴)دَ نښتر او نښتر تر منځه یوه ونه۔ (۵)دَ ساروان دَ اوښ دَ پاسه تړلې ترنګر۔

پرتل:(پر-تل)مصدر۔ غرځېدل۔ لوېدل۔ پرځېدل۔ پرځل۔ ګملاستل۔

پرتل:(پر-تل)اسم۔ پرلت۔ (۱)دَ تلستی مغه طریقه چې دواړه پښې پکښې وغځولے شی۔ (مصدر۔ پرتل غزول)۔ (۲)انبوی۔ (مصدر-وهل) پرلت وهل۔

پرتله:(پر-ت-له)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ پټه۔ مغه تسمه چې توره پکښې ځړنده وی۔ جمع پرتلې۔ (م۔ هندی)۔

پرتله:(پر-تـله)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)مقابله۔ مقایسه۔ موازنه۔ (افغانستان)۔ (کول/کېدل مصدرونه)۔

پرتلیز:(پر-تلیز)اسم صفت۔ واحد/جمع۔ نسبی۔ تلمیز۔ مقایسوی۔ لهٔ کورنی څخه۔ لهٔ خپله۔ لهٔ قبیلې۔ (افغانستان)۔

پرتم:(پر-تم)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دبدبه۔ شان و شوکت۔ روب۔ جلال۔ رُعب۔ هیبت۔ ویره۔ (افغانستان)۔

پرتمین:(پر-ت-مین)اسم صفت۔ رعب ناک۔ روبناک۔ دَ شان او دبدبې خاوند۔ هیبت ناک۔ د شان و شوکت څښتن۔ باوقار۔ بارعبه۔ درونډ خوږ۔ (افغانستان)۔

پرتو:(پر-تو)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ رڼا۔ شعاع۔ (م۔ فارسی)۔

پرتو:(پر-تو)حاصل مصدر۔ پرېوانه۔ اړتاؤ۔ پرتاؤ۔

پرتوغانِ:(پر-تو-غانِ)اسم۔ پرتوګانِ۔ لال۔ ناړه۔ زراحت۔ بګه۔ ازاربند۔ کنډه۔ دَ پرتوګ دَ تړلو مغه جالی دار مزے چې بډه کښې اچولے شی۔ جمع پرتوغانونه۔

پرتوګ:(پر-توګ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ پرتوګ۔ پانجامه۔ مغه لباس چې دَ نامهٔ نه لاندې تر ښنګرو او ښپېو پورې اغستلے کیږی۔

پرتوګانِ:(پر-تو-ګانِ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ پرتوغانِ۔

پرتوګے:(پر-تو-ګے)اسم تصغیر۔ دَ پرتوګ اسم تصغیر۔ وګورئ پرتوګ۔

پرتول:(پر-تول)مصدر۔ (۱)دَ غوږ سورے بندول۔ (۲)ضائع کول۔ بربادول۔

پرتول:(پر-ت-ول)مصدر۔ ټرتول۔ ړتول۔ غورول۔ بدکاری کول۔ عام طور سره دَ ګنځلو دَ پاره استعمالیږی۔ ۲۔

پرتولے:(پر-تو-لے)اسم مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ جمع پرتولی۔ مؤنث پرتولې۔ وګورئ پرتول ۱۔

پرتولے:(پر-تو-لے)اسم مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ جمع پرتولی۔ مؤنث پرتولې۔ وګورئ پرتول ۲۔

پرتون:(پر-تون)حاصل مصدر۔ وګورئ پرتول ۱۔

پرتون:(پر-تون)حاصل مصدر۔ وګورئ پرتول ۲۔

پرتونکے:(پر-تون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع پرتونکی۔ مؤنث پرتونکې۔ وګورئ پرتول ۱۔

پرتونکے:(پر-تون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع پرتونکی۔ مؤنث پرتونکې۔ وګورئ پرتول ۲۔

پرتونه:(پر-تو-نه)حاصل مصدر۔ وګورئ پرتول ۱۔

پرتونه:(پر-تو-نه)حاصل مصدر۔ وګورئ پرتول ۲۔

پرتونے:(پر-تو-نے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دَ غاړې یو پسول۔ جمع پرتونی۔

پرته:(پـر-ته)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ عبث۔ فضول۔ ترټه۔ فضول خبره۔ اپلته۔ چټیات۔

پرته:(پر-ته)حرف۔ بغیر۔ سوا۔ بې لهٔ دې۔

پرته:(پر-ته)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ تاؤ۔ تهه۔ (م۔ هندی۔ پرت)۔

ی" (ښی-رل)، ي"(مې-رم-ول)، ئ"(بیا-ئي)، ے"(تن-دے) تفصیل دَ پاره وګورئ تشرېحات صفحه ۱

www pukhto net

پرته:(پَرْ-ته)صفت- بهر- وړاندې- مخکښې- عام طور سره د سترګو د صفت په طور راځي-

پرته پرته:(پَرْ-ته-پَرْ-ته)صفت (مرکب)- نيغ نيغ- تيغ تيغ- وګورئ پرته-

پرتهار :(پر-تَ-هار)اسم صوت- ترته هار- ترېږ- د تيز اواز-

پرتېدل:(پَرْ-تې-دَل)مصدر- د غوږ سوري بندېدل- ضائع کېدل-

پرتېدل:(پَرْ-تې-دَل)مصدر- (۱)مسخره کېدل- د مخ جنشه ورانېدل-
(۲)ترېدل- تيزونه اچول- (۳)دروغ وئيل- (۴)د مرغی د الوتو کوشش کول-

پرتېدلے:(پَرْ-تې-دَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پرتېدلي- مؤنث پرتېدلې- وګورئ پرتېدل ۱-

پرتېدلے:(پَرْ-تې-دَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پرتېدلي- مؤنث پرتېدلې- وګورئ پرتېدل ۲-

پرتېدن:(پَرْ-تې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ پرتېدل ۱-

پرتېدن:(پَرْ-تې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ پرتېدل ۲-

پرتېدنګ:(پَرْ-تې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ پرتېدل ۱-

پرتېدنګ:(پَرْ-تې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ پرتېدل ۲-

پرتېدنه:(پَرْ-تې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پرتېدل ۱-

پرتېدنه:(پَرْ-تې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پرتېدل ۲-

پرتېدونکے:(پَرْ-تې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پرتېدونکي- مؤنث پرتېدونکې- وګورئ پرتېدل ۱-

پرتېدونکے:(پَرْ-تې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پرتېدونکي- مؤنث پرتېدونکې- وګورئ پرتېدل ۲-

پرتېده:(پَرْ-تې-دَه)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ پرتېدل ۱-

پرتېده:(پَرْ-تې-دَه)حاصل مصدر- وګورئ پرتېدل ۲-

پرجغ:(پَرْ-جغ)اسم- برجګ- پړ پک- پړ پړک- سر تر سره- تر غړی غړی- انجغړی- نوک د څوکه- پېر پړ چې بيخي پکښې نور ځئ نه ځائيږی-

پرخر:(پر-خر)اسم صفت- وګورئ پربخر-

پرخول:(پَرْ-خو-ول)مصدر- (۱)په زمکه راخلاصول- غرزول- نسکورول- پرڅاوول- (۲)شکست ورکول-

پرخولے:(پر-خُ-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پرخولي- مؤنث پرخولې- وګورئ پرخول-

پرخون:(پر-خ-ون)حاصل مصدر- وګورئ پرخول-

پرخونکے:(پر-خ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پرخونکي- مؤنث پرخونکې- وګورئ پرخول-

پرخونګ:(پر-خ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پرخول-

پرخونه:(پر-خ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ پرخول-

پرخوني:(پر-خو-ني)اسم جمع- کشتی-

پرخېدل:(پَرْ-خې-دَل)مصدر لازم- په زمکه راخلاصېدل- نسکورېدل- پرڅاوېدل-

پرخېدن:(پَرْ-خې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ پرخېدل-

پرخېدنګ:(پَرْ-خې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ پرخېدل-

پرخېدنه:(پَرْ-خې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پرخېدل-

پرخېدونکے:(پَرْ-خې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پرخېدونکي- مؤنث پرخېدونکې- وګورئ پرخېدل-

پرخېدونے:(پَرْ-خې-دُو-نے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پرخېدوني- مؤنث پرخېدونې- وګورئ پرخېدل-

پرخېده:(پَرْ-خې-دَه)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ پرخېدل-

پرچ:(پَرْچ/پِرچ)اسم- واحد- مذکر- رکېبی- ناليکے- ناليبکے- د چايو د پيالی سره وړوکے شان لوښے چې پيالی پکښې پرته وی- جمع پرچونه/پرچوُنه-

پرچ:(پَرْچ)اسم صوت- (۱)انتروشے- انتوشے- پرنجے- نوے- پرچيمے- (۲)د موسی د منوی په رخت اواز- (مصدر- وهل)-

پرچال:(پَرْ-چال)اسم- واحد- مذکر- (۱)کوټ- د قلا ديوال- بلی- د قلا د ديوال د تيرو چجه- (۲)د ديوال په سر د موږو قطار- جمع پرچالونه-

پرچاڑ:(پَرْ-چاڑ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پارچاڑ-

پرچتی:(پر-چ-تی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ پرچتے-

پرچتے:(پر-چ-تے)اسم- واحد- مذکر- (۱)د ديوال چجه- د ديوال بلی- څنډلی- سرډو- پرچتی- (۲)لېو- اخېر (افغانستان)- جمع پرچتی-

پرچتی:(پر-چ-تی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- پرچتی- سرماتے- منډېری- چجه-

پرچغه:(پر-چغ-غه)اسم- واحد- مؤنث- ترازه- تنيزه-

پرچک:(پر-چک)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پراوېز- جمع پرچکونه-

پرچکی:(پر-چ-کی)اسم تصغير- وړوکې توکره-

پرچل:(پر-چل)اسم- سخا ميوه- پاتې شوې سخا ميوه-

پرچل:(پَرْ-چَل)مصدر- نوی کول- انتروشی کول- پرنجی کول- پرچ وهل-

پرچم:(پر-چم)اسم- واحد- مذکر- (۱)بيرغ- جنډه- جنډاله- توغ- څپوڼے- برېره- (۲)زلف- کاکل- (۳)د غوا د لکی څنډے- جمع پرچمونه- (م- فارسی)-

پرچنګ:(پَرْ-چنګ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پرچنه- (۲)حاصل مصدر- وګورئ پرچل-

پرچنه:(پَرْ-چَ-نه)اسم- واحد- مؤنث- پرچ- انتوشے- انتروشے- پرنجے- نوے- پرچنګ- (۲)حاصل مصدر- وګورئ پرچل-

پرچنی:(پر-چ-نی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- په کچه ديوالونو د وښو چت-

پرچوخے:(پر-چو-خے)اسم- واحد- مذکر- پوټکے- پتخے- پټخے- خېږ-

زبر (ج-مـ-ـه-ـو)، زورکے (شل)، پېښ (مو-کا-ـه)، زمر (کـ-مابـ)، جزم (شکوپ)، ه(ر ه)، ۀ(پړ-ـې-ـه)

www.pukhto.net

خلو- پټرے- پټرکے- دَ زخم پټ-

پرچول:(پَرْ-مْ-چِ-وَل)مصدر متعدی- (۱)نری وروستل- پرچې وروستل- پرنجې وروستل- انتوشی وروستل- پهٔ پرچنګ راوستل- (۲)وګورئ پرتول-

پرچولے:(پَرْ-مْ-چُ-وَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پرچولی- مؤنث پرچولې- وګورئ پرچول-

پرچون:(پَرْ-مْ-چُ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ پرچول-

پرچون:(پَرْ-چُون)اسم- واحد- مذکر- پرچون- دَ "تول" ضد- خوردہ- پهٔ یو ځایْ دَ خرڅولو پهٔ مقابله کښې پهٔ لږه لږه دَ خرڅولو کار او پیشه- (م- هندی)-

پرچونکے:(پَرْ-مْ-چُ-وُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پرچونکی- مؤنث پرچونکې- وګورئ پرچول-

پرچونګ:(پَرْ-مْ-چُ-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ پرچول-

پرچونه:(پَرْ-مْ-چُ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پرچول-

پرچونے:(پَرْ-چُو-نے)اسم- پرچون (دَ تول یا یو ځایْ ضد)- لږ لږ- پرخه پرخه- ونډه ونډه- وګورئ پرچون-

پرچون:(پَرْ-چُون)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پرچون-

پرچه:(پَرْ-چه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ کاغذ ټوټه- (۲)اخبار- رساله- (۳)پرزه- ټکړه- پارچه- (۴)خط- چیټی- رقعه- تحریر- (۵)دَ امتحان سوالنامه- (۶)دَ مقدمې پهٔ حقله دَ پولیس اندراج- (۷)لیکلے کاغذ- جمع پرچې-

پرچېدل:(پَرْ-مْ-چې-دَل)مصدر متعدی- (۱)پرنجے کول- نری کول- ترنجېدل- پرنجی کول- پرشی کول- انتوشی کول- پرچېمی کول- (۲)وګورئ پرتېدل-

پرچېدن:(پَرْ-مْ-چې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ پرچېدل-

پرچېدنګ:(پَرْ-مْ-چې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ پرچېدل-

پرچېدنه:(پَرْ-مْ-چې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پرچېدل-

پرچېدونکے:(پَرْ-مْ-چې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پرچېدونکی- مؤنث پرچېدونکې- وګورئ پرچېدل-

پرچېدهٔ:(پَرْ-مْ-چې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ پرچېدل-

پرچېمے:(پَرْ-چې-مے)اسم- واحد- مذکر- انتروشے- وګورئ پرچ- جمع پرچېمې-

پرچے:(پَرْ-مْ-چے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پرچ-

پرڅاره:(پَرْ-څا-ره)اسم- واحد- مؤنث- پرینګ- دَ خېټې دننه طرف ته یوه نری جلی- جمع پرڅارې-

پرڅل:(پَرْ-څَل)مصدر- دَ خیرات دَ پاره منت منل-

پرڅلے:(پَرْ-څَ-لے)اسم معقول- واحد- مذکر- جمع پرڅلی- مؤنث پرڅلې- وګورئ پرڅل-

پرڅن:(پَرْ-څَن)حاصل مصدر- وګورئ پرڅل-

پرڅنګ:(پَرْ-څَنګ)حاصل مصدر- وګورئ پرڅل-

پرڅنه:(پَرْ-څَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پرڅل-

پرڅونکے:(پَرْ-څُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پرڅونکی- مؤنث پرڅونکې- وګورئ پرڅل-

پرخ:(پَ-رَخ)اسم- واحد- مذکر- دَ "قرق" عامیانه قرأت- وګورئ قرق-

پرخ:(پَرْخ)اسم صوت- دَ خلې پهٔ ذریعه دَ اُبو ویشتلو اواز-

پرخاره:(پَرْ-خا-ره)اسم- واحد- مؤنث- پخه- بڼه- پر- جمع پرخارې-

پرخاش:(پَرْ-خاش)اسم- واحد- مذکر- (۱)دښمنی- (۲)جنګ- (۳)مخالفت- (۴)مقابله- (۵)جګړه- (۶)وراني- (۷)کینه- (۸)فساد- (م- فارسی)-

پرخانه:(پَرْ-خا-نه)اسم- واحد- مؤنث- دَ غشی هغه ځایْ چرته چې دَ غشی وزرې لګېدلې وی- جمع پرخانې-

پرخاژ:(پَرْ-خاژ)اسم- واحد- مذکر- پونه- ترشح-

پرخت:(پَرْ-خَت)اسم- واحد- مذکر- پهٔ نکولی کښې ماته شوې روټی-

پرخت:(پَرْ-خَت)اسم- واحد- مذکر- پهٔ کړس کړس خندا- کټ کټ خندا- پهٔ زوره خندا- (افغانستان)-

پرخم:(پَرْ-خَم)اسم- واحد- مذکر- (۱)جوموکه- ګڅه- دَ لکی وټے- دَ ښارور دَ لکی څوندے- (۲)مچ شړ- چوری- مچ شړونے- (افغانستان)-

پرخم:(پَرْ-خَم)اسم- واحد- مذکر- پرچم- تروغ- جنډه- بیرغ- (افغانستان)- جمع پرخمونه-

پرخول:(پَرْ-خَ-وَل)مصدر متعدی-پوکل- پوول- شیندل- پونه کول- دَ اُبو پاشل-

پرخون:(پَرْ-خَ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ پرخول-

پرخونکے:(پَرْ-خَ-وُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پرخونکی- مؤنث پرخونکې- وګورئ پرخول-

پرخونګ:(پَرْ-خَ-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ پرخول-

پرخونه:(پَرْ-خَ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پرخول-

پرخه:(پَرْ-خه)اسم- مؤنث- (۱)شبنم- دَ شپې چې کوم څاڅکی دَ اسمان نه راپریوځی- (۲)نورمکه- نرے باران-

پرخېدل:(پَرْ-خې-دَل)مصدر- دَ پرخې مسې ورېدل-

پرخېدلے:(پَرْ-خې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پرخېدلی- مؤنث پرخېدلې- وګورئ پرخېدل-

پرخېدنه:(پَرْ-خې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پرخېدل-

پرخېدهٔ:(پَرْ-خې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ پرخېدل-

پرخېل:(پَرْ-خېل)اسم- وګورئ پرخیال-

پرخیال:(پَرْ-خیال)اسم- پرخېل- پخېل- خولې کونه- پهٔ رنځور خولې راوستنه-

پرخیز:(پَرْ-خیز)اسم صفت- فرق کونکے- بې انصافه- مؤنث پرخیزه- جمع مؤنث پرخیزې-

پرخې:(پر-خې)اسم صفت- دَ ضرورت نه زیات-
پرخې:(پر-خې)اسم- واحد- مذکر- د خرۀ دَ کتې موره-
پرداخت:(پر-داخت)اسم- غور فکر- توجه- پروا- (م- فارسي)-
پردار:(پر-دار)اسم صفت- (۱)وزر لرونکے- (۲)دَ الوتو جوګه- (۳)ازادی خوښونکے- (م- فارسي)-
پرداز:(پر-داز)لاحقه (اصل پرداختن نه فعل امر)- د څنو اسمونو نه پس د سمبالونکی، انتظام کونکی یا جَکلی کونکی معنیٰ پیدا کوی مثلاً کارپرداز وغیره-
پرداګه:(پر-دا-ګه)اسم- واحد- مذکر- دَ "پرتاګه" دویم قرأت- وګورئ پرتوګ-
پردل:(پر-دل)اسم- واحد- مذکر- پلېټ- قلېټ- تالے- رکېبي- کنډول- (م- فارسي)-
پردوګ:(پر-دوګ)اسم- واحد- مذکر- دَ "پرتوګ" یو قرأت- وګورئ پرتوګ-
پرده:(پر-ده)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پرده- ستر- حجاب- حیا- (۲)پټ راز- پنامی- (۳)دَ غوږ جلی- دَ سترګو جلی- (۴)دَ دوو حصو بېلونکے ناژګ حائل- (۵)دَ فقیرانو په اصطلاح کښې پیر وفات کېدنه- (۶)دَ کړکیو او دروازیو دَ پټولو کپړه- (۷)پردۀ بکارت- دَ کوټې د پاسه تاږ دېوال- (م- فارسي)-
پرده:(پر-ده)اسم صفت- پورده- پړده- پروده- پر- مجبور- پابند-
پرده:(پر-ده)اسم- واحد- مؤنث- دَ موسیقۍ سُر یا آواز- نغمه- دَ باجي (ارمونیم) یا نور داسې دَ موسیقۍ آلاتو دَ غږولو دَ پاره دَ ګتو ځای- جمع پردې-
پرده پوش:(پر-ده-پوش)اسم صفت- وګورئ پرده پوښ- (م- فارسي)-
پرده پوشی:(پر-ده-پو-شي)اسم- پرده ساتنه- پرده اچونه- راز نۀ ښکاره کونه- پرده داري- (م- فارسي)-
پرده پوښ:(پر-ده-پوښ)اسم صفت- پرده پوش- پرده ساتونکے- پرده اچونکے- پرده داري کونکے- (م- فارسي)-
پردۀ دار:(پر-ده-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- پرده کونکے- حیاناک- راز ساتونکے- پرده کونکے- جمع پرده داران- مؤنث پرده داره- جمع مؤنث پرده دارې-
پرده داری:(پر-ده-دا-ري)اسم- پرده ساتنه- راز نۀ ښکاره کونه-
پردېس:(پر-دېس)اسم- واحد- مذکر- بېګانه ملک- پردے وطن- (م- هندي)-
پردېسنه:(پر-دې-سه-نه)اسم صفت- واحد- مؤنث- دَ پردېسی مؤنث- دَ بل وطن ښځه- جمع پردېسنې-
پردېسی:(پر-دې-سي)اسم صفت- واحد- مذکر- د غیر ملک- د پردی ملک- د بېګانه وطن- مؤنث پردېسی پردېسنه- (م- هندي)-
پرړ:(پر-ړ)اسم صفت- غټ کټ- مضبوط- کټه- سخت- پیړ- پرپیړ- پلن- مؤنث پرړه-
پرړه:(پر-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پزه پوزه- ټوکه- وشته- پوزه- باټه- دروغ ویشتیا- لاف و ګزاف- لاپه شاپه- غری تری- (۲)هغه کوتره چې وزرونه تری قېنچې شوی وی او دَ نورو کوترو دَ را کوزولو دَ پاره استعمالیږی- جمع پرړی-
پرړی:(پر-ړی)اسم- واحد- مؤنث- وبا- بابو- هیضه- دَ قی دست بیماری-
پرړېدل:(پر-ړې-دل)مصدر لازم- (۱)پړکېدل- ترکېدل- ترپېدل- پړقېدل- ناقلاره کېدل- دَ ازادېدو یا دَ ځان دَ خلاصولو کوشش کول- د مرغی په جال کښې وزرې یا ځانګوته وهل- (۲)پړې په پړې اوړېدل-
پرړېدلے:(پر-ړې-ده-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پرړېدلی- مؤنث پرړېدلې- وګورئ پرړېدل-
پرړېدن:(پر-ړې-دن)حاصل مصدر- وګورئ پرړېدل-
پرړېدنګ:(پر-ړې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ پرړېدل-
پرړېدنه:(پر-ړی-ده-نه)حاصل مصدر- وګورئ پرړېدل-
پرړېدونکے:(پر-ړی-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پرړېدونکی- مؤنث پرړېدونکې- وګورئ پرړېدل-
پرړېدۀ:(پر-ړې-دۀ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ پرړېدل-
پرزو:(پر-زو)اسم- دَ زړۀ خوښه- پرزوینه- سوده- چا سره دَ ښۀ سلوک کولو د پاره خواهش-
پرزوینه:(پر-زو-ینه)اسم- وګورئ پرزو-
پرزه:(پر-زه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ټوټه- ټکړه- حصه- (۲)دَ فیشن سامان- (۳)رقعه- د کاغذ ټوکړه- جمع پرزی-
پرس:(پرس)اسم- واحد- مذکر- بټوه- دَ زنانۀ دَ سامان وغیره ایښوو بټوه- (م- انګریزي)-
پرس:(پرس)اسم- واحد- مذکر- پښتنه- تپوس- تحقیق- پرسان- (م- فارسي)-
پرسان:(پر-سان)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پرس- (م- فارسي)-
پرست:(پ-رست)لاحقه- دَ پرستش (عبادت، محبت) په معنو کښې دَ بل اسم سره لاحقه لکه خدا پرست، وطن پرست وغیره-
پرستار:(پ-رس-تار)اسم صفت- (۱)عبادت کونکے- پرستش کونکے- (۲)عاشق- مئین- (۳)مرنیے- جمع پرستاران- مؤنث پرستاره- جمع مؤنث پرستاری-
پرستاره:(پ-رس-تاره)اسم- واحد- مؤنث- دَ پرستار مؤنث- وینځه-
پرستاری:(پ-رس-تاري)اسم- واحد- مؤنث- (۱)عبادت- خدمت- (۲)دَ ناروغ پالنه- د ناروغو خدمت او پالنه- د نرس وظیفه- (۳)غمخوری- (افغانستان)-
پرستان:(پ-رس-تان)اسم- واحد- مذکر- دَ ښاپیرو وطن- یو خیالی او افسانوی ملک-
پرستش:(پ-رس-تش)اسم- عبادت- اطاعت- بندګی- تعظیم- (م- فارسي)-

www.pukhto.net

پرستي:(پَ-رس-تي)لاحقه- دَ "پرست" دَ لاحقي يو بل شکل چي د خپل ځان نه مخکښي لفظ سره د عبادت او محبت کولو دَ کار مفهوم ورکوی لکه، خدا پرستي، وطن پرستي وغيره-

پرسد:(پِرَ-سَد)اسم صفت- پوهه- هوښيار- عقلمند- (افغانستان)- (دَ بې سَد ضد چي استعمال کښي نهٔ راځي-)-

پرسدتوب:(پِرَ-سَد-توب)اسم- پرسدوالے- هوښياري- هوښيارتوب- عقلمندي-

پرسش:(پُرَ-سِش)اسم- واحد- مذکر- پښتنه- تپوس- (م- فارسي)-

پرسند:(پِرَ-سَند)اسم صفت- دَ پسند عاميانه قرأت- پسند- خوښه- (م- فارسي)-

پرسنده:(پِر-سن-ده)اسم- واحد- مؤنث- وَچه کړې غوښه- دَ لاندي وَچه غوښه-

پرسنه:(پِرَس-نه)اسم- واحد- مؤنث- خاسنهٔ- خشنهٔ- خاشپهٔ- خراشنهٔ- (افغانستان)- جمع پرسنې-

پرسي:(پُر-سي)لاحقه- دَ "پرس" دَ کار او دَ مشغولا دَ معني لرونکې لاحقه لکه بيمار پرسي وغيره-

پرسيره:(پر-سي-ره)حرف- برخېره- (۱)علاوه- (۲)زياتي- (۳)پورته-

پرش:(پَرش)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ فرش عاميانه قرأت- دَ سيمټو لېو شوې زمکه- (۲)دَ کوټې دَ مخ اسباب- تپڼر- غالي- سترنجي- پوزے وغيره- (افغانستان)-

پرش:(پَرش)اسم صوت- (۱)دَ غصې يا منډې په وجه دَ ځناورو په پوزه ساه راکښنه- پرشهار- پرشار- (۲)انتروشے- پرنجے- لنډوشے- نړے- (۳)دَ مار پرشېدنه- (۴)ناڅاپه قهرېدنه-

پرش:(پَرش)اسم- واحد- مذکر- وټه- پانګه- پُشته- شنډی- بند- پکه- دَ سيلاب دَ اُبو دَ ودرولو يا دَ مخې دَ رُخ اړولو دَ پاره لهٔ کاڼو جوړ مضبوط دېوال-

پرشا:(پَرِ-شا)اسم صوت- پرشار- دَ پرش پرش اواز-

پرشاد:(پَرِ-شاد)اسم- واحد- مذکر- خېرات- دَ نذر نياز، تبرک، شکرانې يا لنګر خوړه (ورکول مصدر)- (م- هندي)-

پرش پرش:(پَرش-پَرش)اسم صوت- دَ ځناور يا مار دَ خُلې اواز- خرش پرش-

پرش پروش:(پَرش-پَروش)اسم صوت- (۱)پرشار- پرش پرش کونه- (۲)خرش خرش- دَ قهر او غُصې په حالت کښې- (۳)پره پره-

پرشکال:(پَر-ش-کال)اسم- وګورئ پشکال-

پرشمے:(پَرش-مے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پېش نمے- جمع پرشمي-

پرشول:(پَرِ-ش-وَل)مصدر- پرشار ايستل- پرشارے ايستل-

پرشه:(پر-شه)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پربه-

پرشهار:(پَرِ-ش-هار)اسم صوت- (۱)پرشهارے- پرشېدنه- پرش پرش کونه- دَ ځناور يا دَ مار دَ خُلې اوازونه- (۲)په زوره زوره ساه اخستنه-

پرشي:(پر-شي)اسم- واحد- مذکر- يو قسم مشهور ګل- جمع پرشيان-

پرشېدل:(پَرِ-شې-دَل)مصدر لازم- پرنجېدل- پرچېدل- انتروشے کول- پرش پرش کول-

پرشېدن:(پَرِ-شې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ پرشېدل-

پرشېدنګ:(پر-شې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ پرشېدل-

پرشېدنه:(پَرِ-شې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ پرشېدل-

پرشېدونکے:(پَرِ-شې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پرشېدونکي- مؤنث پرشېدونکې- وګورئ پرشېدل-

پرشېدهٔ:(پَرِ-شې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ پرشېدل-

پرشے:(پَر-شے)اسم- واحد- مذکر- دَرشل- څيرزېرے- تادرے- دَ دروازې دَ چوکاټ لاندينے لرګے-

پرښته:(پَ-رِښ-ته)اسم- فرښته- (م- فارسي)-

پرښويه:(پَر-ښو-يه)اسم صفت- واحد- مؤنث- ښويه-

پرښه:(پر-ښه)اسم- واحد- مؤنث- غټ کاڼے- تږه- غټه تيږه- سنګه خوښېدونکے غر-

پرغټ:(پر-غټ)اسم- واحد- مذکر- نرغوټ- برغوټ- پيش پرانګ- پيش- کټه پيش-

پرغرک:(پر-غ-رک)اسم- واحد- مذکر- پسه- داسه- ننګښے- کوهه- دَ بار دَ کلکولو او محکمولو دَ پاره دَ پړی په سر کښې تړلے شوے لرګے-

پرغز:(پَر-غَز)اسم- واحد- مذکر- دَ ماشومانو دَ لوبو هغه غشے چې ورز لري او ماشومان يې دَ لوبو په غرض په دېوال ولي- چکچکے- چکچکانے-

پرغز:(پَر-غَز)اسم- واحد- مذکر- (۱)وارخطائي- بې هوشي- غټه- دَ مېرګي غټه- (۲)غصه- قهر- کاوړ- جمع پرغزونه-

پرغزتوب:(پَر-غز-توب)اسم- دَ پرغزي کېدو حالت- پرغزتيا- وګورئ پرغز -

پرغزتيا:(پَر-غز-تيا)اسم- وګورئ پرغزتوب-

پرغزه:(پر-غ-زه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پرغز-

پرغزی:(پَر-غ-زی)اسم صفت- (۱)پرغز اخستے- (۲)دَ غصې حالت کښې- غصه ناک- قهرېدلے- کاوړ نيولے- (۳)ګډوډ- بې ترتيبه-

پرغشه:(پر-غ-شه)اسم- واحد- مؤنث- بګه- ببه- لال- کټه- جمع پرغشې-

پرغو:(پَر-غو)اسم- سرې- پلغو- پولغو- پرويغي- دَ ټلبې دَ پاره غاړه شوی غوبان-

پرک:(پَ-رک)اسم- واحد- مذکر- ټلاٹی- خپل-

پرک:(پَ-رک)اسم- واحد- مذکر- هغه ګُنجې کړے شوې کپړه چې دَ قميص لمن، لستونيو، دَ بالښت ابريو او داسې دَ نورو کپړو غاړو ته دَ ښائست دَ پاره لګي- فرل-

پرکار:(پَر-کار)اسم- واحد- مذکر- (۱)ملکار- پرکال- دَ يو پښې لرونکې دَ اُسپنې، لرګي يا پلاسټک هغه آله چې دائرې پرې راکښلے شي- هم دَ دی

www.pukhto.net

غرض دَ پاره دَ ترکاباتو یوه آله- ګرخ- چکر- (۲)قطب نما- قبله نما-

پرکار:(پَر-کار)صفت- پرکاره- (۱)دَ "ساده" ضد- (۲)غښتلی- شکره- (م- فارسي)-

پرکاره:(پَر-کا-ره)اسم صفت- وګورئ پَرکار-

پرکاري:(پَر-کا-ري)اسم- دَ "پَرکار" کېدو حالت- (م- فارسي)-

پرکال:(پر-کال)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پرکار ۱-

پرکال:(پَر-کال)اسم صفت- لۀ خوبه جوتې خوړونکے- خوب ته نژدې- پرېشاني ورېے-

پرکالتوب:(پر-کال-توب)اسم- وګورئ پرکالتیا-

پرکالتیا:(پر-کال-تیا)اسم- دَ پرکال کېدو حالت- لۀ خوبه دَ جوتو وهلو حالت-

پرکالول:(پر-کا-ل-ول)مصدر- دَ "پرکال" نه مصدر- دَ خوب پۀ جوتو مبتلا کول-

پرکالون:(پَر-کا-ل-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ پرکالول-

پرکالونګ:(پَر-کا-ل-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ پرکالول-

پرکالونه:(پر-کا-ل-ونه)حاصلِ مصدر- وګورئ پرکالول-

پرکاله:(پر-کا-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)حصه- ټکړه- (۲)سکروټه- جمع پرکالې- (م- فارسي)-

پرکاله:(پر-کا-له)اسم صفت- دَ بَرني "پرکال" مؤنث- لۀ خوبه جوتې خوړونکې زنانه-

پرکالي:(پر-کا-لي)اسم- واحد- مؤنث- پرکالتیا- پرکالتوب-

پرکالېدل:(پر-کا-لې-دل)مصدرِ لازم- دَ "پرکال" لازمي مصدر- دَ خوب پۀ جوتو مبتلا کېدل-

پرکالېدن:(پر-کا-لې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ پرکالېدل-

پرکالېدنګ:(پر-کا-لې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ پرکالېدل-

پرکالېدنه:(پر-کا-لې-دنه)حاصلِ مصدر- وګورئ پرکالېدل-

پرکالېدونکے:(پر-کا-لې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پرکالېدونکي- مؤنث پرکالېدونکې- وګورئ پرکالېدل-

پرکټ:(پر-کټ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پرکټے-

پرکټ:(پر-کټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)مات وزرے- هغه مارغۀ چې وزرې ئې پرېکړے شوې وي- (۲)مُتاژه- بې کاره- بې وسه- حاجت مند (صفت)- جمع پرکټي- مؤنث پرکټه- جمع مؤنث پرکټې- (کول/کېدل مصدرونه)- (ش- هندي)-

پرکټے:(پر-ټے)اسم- واحد- مذکر- هغه خوئ چې کُنهه بڅه ئې دَ دوېم وادۀ نه پس دَ خاوند کور ته ځان سره بوځي او ساتي- پرکټ- پرکټے- مترې (مروت)- جمع پرکټي- مؤنث پرکټې-

پرکټې:(پر-ټې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دَ "پرکټے" مؤنث- وګورئ پرکټے-

پرکښ:(پر-کښ)اسم صفت- برکښه- هغه لېنده چې دَ غشي ویشتلو دَ پاره ډېر پۀ زور پوره راکښلے شي-

پرکن:(پر-کن)اسم- واحد- مذکر- پوله- برید- دَ حد برجې-

پرکے:(پَر-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ قرآن پاڼه- جمع پرکي-

پرکے:(پَر-کے)اسم صوت- دَ مارغانو آواز-

پرګ:(پَر-رګ)اسم- واحد- مذکر- دَ بوزغلي پۀ ځاې لۀ تخمه حاصل شوې پیاز یا نور داسې بوټي- جمع پرګان-

پرګ:(پرګ)اسم- واحد- مذکر- بُوس- هوا سره الوتونکے دَ ځنو غلو پوستکے-

پرګ:(پرګ)اسم- واحد- مذکر- رَمه- کنډک-

پرګانه:(پر-ګا-نه)اسم صفت- خوروور- تس نس- شیندلے- (افغانستان)-

پرګانې:(پَر-ګا-نې)اسم- واحد- مؤنث- دَ شولو هغه قسم چې دَ بوزغلي پۀ ځاې لۀ تُخمه زرغنیږي-

پرګټے:(پَر-ګټے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پرکټے- جمع پرکټي- مؤنث پرکټې-

پرګله:(پر-ګله)اسم- ډېر خلق- هجوم-

پرګنه:(پر-ګنه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)جاګیر- دَ ضلعې یوۀ حصه- (تحصیل)- (۲)خاندان- کورمه- (افغانستان)- (ش- فارسي، هندي)-

پرګو:(پَر-ګو)اسم صفت- (۱)ډېر ډېر شعرونه ویونکے شاعر- دریابي شاعر- هوائي شاعر- (۲)زیاتې خبرې کونکے- پرګویه- (م- فارسي)-

پرګول:(پر-ګول)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ پېغلتوب او عصمت پرده- دَ بکارت پرده- (۲)پېغله- بکره- نجلۍ- جینۍ-

پرګوئي:(پَر-ګو-ئي)اسم- مؤنث- دَ پرګو کېدو حالت- وګورئ پَرګو-

پرګویه:(پَر-ګو-یه)اسم صفت- وګورئ پرګو-

پرګه:(پر-ګه)اسم- واحد- مؤنث- خاندان- نسل- خېل- خېل خېلوان- کورمه- قبیله- جمع پرګې-

پرګے:(پَر-ګے)اسم- واحد- مذکر- دَ ګېډې دَ رنې پلے- پېرګے- جمع پرګي-

پرګے:(پر-ګے)اسم صفت- واحد- مذکر- چرګے- برګے- (اس یا مېښه)-

پرل:(پَرل)مصدر- (۱)پېرل- (۲)سوېل-

پرلت:(پَر-لت)اسم- واحد- مذکر- دَ ناستې هغه طریقه چې یوه پښه دَ بلې پښې دَ پاسه داسې واچولے شي چې دَ یوې پښې پنجه دَ بلې پښې پۀ زنګانۀ راشي- (غزول/وهل مصدر)-

پرن:(پَرن)حاصلِ مصدر- وګورئ پرل-

پرنګ:(پرنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ پرل-

پرنه:(پَر-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ پرل-

پرونکے:(پرون-کے)اسم فاعل- جمع پرونکي- مؤنث پرونکې- وګورئ پرل-

پرله باندې:(پر-له-بان-دې)جار/صفت/متعلق فعل- یو دَ پاسه بل- یو بل دَ پاسه- یو پۀ بل- سر پۀ سر- لاندې باندې-

زبر "(خ-بط-ره)، زورکے "(شل)، پېښ "(نو-کا-ره)، زېر "(ک-تاب)، جزم "(شکون)، ـّ "(ز-ړه)، ۀ "(پو-ستې-دۀ)

پرله پسې:(پَر-لَ-پَسې)جار/صفت/متعلق فعل- يو بل پسې- يو پسې بل- په يو مخ- مسلسل- متواتر- لګاتار-

پرله پورې:(پَر-لَ-پو-رې)جار/صفت/متعلق فعل- جُخت- پېوست- نژدې نژدې- ورپورې-

پړله وهلے:(پړ-لَه-وَ-هَلے)اسم صفت- مضبوط- قوي- غټ- غښتلے- چاق- څرب- (افغانستان)-

پرلے:(پَر-لے)اسم مفعول- جمع پرلي- مؤنث پرلې- وګورئ پرل-

پرم:(پَ-رَم)اسم- واحد- مذکر- وينځۀ پاڼې لرونکے يو سدابهار ګل چې عام طور سره سپين يا ګلابي وي- حکيمان ئې سپين ګل دَ نيابيطس دَ پاره استعمالوي-

پرم:(پَ-رَم)اسم- واحد- مذکر- اتشک- بادفرنګ-

پرماتے:(پَر-ما-تے)اسم صفت- ورزماتے- دَ امنځ قسم- جمع پرماتي-

پرمال:(پَر-مال)اسم- واحد/جمع- مذکر- کنډې مال- دَ غوبل شوو غنمو نه پاتې مات ګډ وړی چې دوباره غوبل کولے شي- سرمال- سرخ کوړے- (افغانستان)-

پرمان:(پَر-مان)اسم- واحد- مذکر- دَ "فرمان" عاميانه قرأت- حکم- فرمان- امر- جمع پرمانونه-

پرمانو:(پَر-ما-نو)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پرهانو- (م- هندي)-

پرمټ:(پَر-مټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)اجازت نامه- جمع پرمټونه- (۲)دَ بجلۍ دَ رو بندولو دَ پاره دَ متعلقه افسرانو اجازت- (م- انګريزي)-

پرمخ:(پَر-مخ)اسم صفت- (۱)په مخ- په يوه مخه- سراسر- په مخ بلندې- دَ ښتې ضد- (۲)وړاندې- مخکښې- (۳)بيخي- سراسر- له يو سر- ټول- (افغانستان)-

پرمختګ:(پَر-مخ-تګ/پَر-مَخ-تَګ)اسم- پرمخ تياء- وړاندې تګ- ترقي- پيش رفت- (افغانستان)-

پرمخ توب:(پَر-مخ-توب)اسم- وګورئ پرمختګ- (افغانستان)-

پرمختيا:(پَر-مخ-تيا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پرمختګ- (افغانستان)-

پرمخيون:(پَر-مخ-يون)اسم- په يو مخ رفتار- مسلسل رفتار- (افغانستان)-

پرمهره:(پَر-مه-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)هغه ځيرے چې باز يا نور ښکاري مارغان ئې دَ سحر په وخت له خلې نه غُرځوي- مېل- (۲)دَ مارغانو بڼې چې ښکاري مارغان ئې سحر کښې دَ يوې داڼې په شکل کښې راوباسي-

پرمې:(پَر-مې)اسم- واحد- مذکر- دَ اتشک بيمار-

پرميو:(پَر-مي-يو)اسم- (۱)دَ متيازو يو تکليف- سوزاک- (۲)جيريان- جريان- (۳)کوخې- (م- فارسي)-

پرميخ:(پَر-ميخ)اسم صفت- واحد- مذکر- کنګس- پرکاله-

پرميخې:(پَر-مي-خې)اسم- واحد- مؤنث- کنګس توب- پرکالي- دَ خوب دَ جوتې خوړلو حالت-

پرميږه:(پَر-مي-ږه)اسم- واحد- مؤنث- پوځکې- مرخيړے- خرميږې- کوچے کوجے- ورخيږے- ستورے- پرميږه- جمع پرميږې- (افغانستان)-

پرمېښې:(پر-مي-ښې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- چاقه، کريه او تياره غوا-

پرن:(پَه-رَن)اسم صفت- تيزمار- تيزن-

پرنا:(پَر-نا)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ دارو دَ يو ځل خوراک مقدار- (۲)ځل- وار-

پرنا:(پَر-نا)اسم- مؤنث- (۱)خمار- نشه- پرکالي- (۲- صفت)حيران-

پرناله:(پَر-نا-له)اسم- واحد- مؤنث- دَ کور له چته دَ اُبو دَ بهېدلو لاره- څخې- جمع پرنالې-

پرنا وړل:(پَر-نا-وړل)مصدر- حيرانېدل-

پرناوه:(پَر-نا-وه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پرناله- جمع پرناوې-

پرنج:(پَرَنج)اسم- واحد- مذکر- انتروشے- انېوشے- نږے- پرش- پرنخ- پرنج-

پرنج:(پَ-رَنج)اسم- واحد- مذکر- دوګانه- جالي- دَ انګورو قلم- دَ انګورو هغه لښته چې سر ئې په زمکه کښې ښخ کړے شي او دَ لګېدو نه پس جُدا کړے شي- جمع پرنجونه-

پرون(پ-ړ-ون)حاصل مصدر- وګورئ پرول-

پرون(پ-ړ-ون)حاصل مصدر- وګورئ پرول-

پروند(پر-وند)اسم صفت- کلک- ټینګ- قوی- غښتلے- مضبوط-

پرونکے(پ-ړ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پرونکی- مؤنث پرونکې- وګورئ پرول-

پرونکے(پ-ړ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پرونکی- مؤنث پرونکې- وګورئ پرول-

پرونګ(پ-ړ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پرول-

پرونګ(پ-ړ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پرول-

پرونه(پ-ړ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ پرول-

پرونه(پ-ړ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ پرول-

پرونے(پ-رو-نے)اسم- واحد- مذکر- پړنے- د زنانه څادر- پټکے- داون- دانو- چکاله- ټیکرے-

پروه(پر-وه)اسم- واحد- مؤنث- پوره- کوی- د پلنې خلې وړه کوی- کهی- وګورئ پرو- جمع پروی-

پرومنه(پر-و-منه)اسم- جریب کشي- په پړی زمکه میچ کونه- (م- شاید له "پړي ومنه" څخه جوړ شوے)-

پرومونکے(پر-و-مون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- پرومونے- جریب کش- د پړی په ذریعه د زمکي میچ کونکے- (افغانستان)-

پرومونے(پر-و-مو-نے)اسم فاعل- جمع پروموني- وګورئ پرومونکے-

پره(پره)اسم- واحد- مؤنث- د "وره" ضد- ملامتیا- ګرمتیا-

پره(پ-ره)اسم- واحد- مؤنث- استره- جمع پړی- (افغانستان)-

پرهټکه(پره-ټ-که)اسم- واحد- مؤنث- ټرنکه- پوښاکه- پښاکه- لنې وهنه- شلکه- لټکه- لغته- لوڅې پوڅې- وګورئ پرټکه-

پره وړه(پره-وړه)اسم- حق ناحق- ګرمه ناګرمه-

پړه(پړه)اسم صفت- جمع- مذکر- د "پړ" جمع- (۱)ملامت- ګرم- (۲)شکست خوړلی- مات شوی-

پړی(پ-ړی)اسم صفت- (۱)د "پړ" خاوند- جوارګر- شرطی- پړ چلونکے- (۲)هغه سړے چې هر کار کښې خند اچوی-

پړی والا(پ-ړی-وا-لا)اسم- واحد- مذکر- (۱)پنډی- مزدور- هغه مزدور چې په شا پیټے وړی- (۲)رسی یا پړی څرخونکے- جمع پړی والان-

پریت(پریت)اسم صفت- (۱)چیت- پیت- (۲)له ویری نه پټ شوے- غلے شوے- مؤنث پریته- جمع مؤنث پریتې-

پریت(پریت)اسم صوت- د الوتو په وخت د مرغ اواز-

پریته(په-ریت)الاحقه- شلیدلے- چوڼدے (عام طور سره په کنځلو کښې د زنانه د شرمګاه سره د لاحقې په شکل راځي)-

پریخ(پریخ)اسم صفت- (۱)پلن- چیت- پریت- (۲)چینګ- چینګ- مؤنث پریخه- جمع مؤنث پریخې-

پریخ پزے(پریخ-پزے)اسم صفت- واحد- مذکر- پریخ پوزے- پلنه او چیته پوزه لرونکے- چیت پوزے- پیت پوزے- پریخ پزے- جمع پریخ پزی-

"ی" (ښی-رل)- "ې"(هي-ره-ول)- "ی"(پیا-لی)- "ے"(تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

پریخ پېزے:(پریخ-پې-زے)اسم صفت- وګورئ پریخ پزے-

پریس:(پریس)اسم صفت- بې ږوله- پلن- پریخ-

پریس والے:(پریس-وا-لے)اسم- بدشکلي- بې ږولي-

پریک:(پریک)اسم- واحد- مذکر- پریکه- رنها- خلق- بربېن- ګریکه- جمع پریکونه-

پریم:(پریم)اسم صفت- پریم- یخ- کلک- موره- پرنو-

پرین:(پرین)اسم صفت- خوږین- زیات پوخ- خوږین پرین- خوږت پرت-

پریند:(پریند)اسم- واحد- مذکر- پریم- پریند- پریم- د نوم کلمه-

پرینګ:(پرینګ)اسم صوت- چیک- پرېک- د ژړا اواز-

پرینګ:(پرینګ)اسم- واحد- مذکر- پربوان- هغه سپینه ماده چې د بچي د پېدا کېدو په رخت د ماده ښاروی نه راوځي- (۲)د کلمو د پلسه د غوښې یوه کلکه پرده-

پرینګاری:(پرین-ګا-ري)اسم- واحد/جمع- مؤنث- ځفت- چفته- کوکتیے- د مرز نه لوه غټه مرغی-

پرینګهار:(پرینګ-ګ-هار)اسم- چینګا- چینګهار- د ماشومانو د ژړا اواز-

پرینګے:(پرین-ګے)اسم- چیچړه- پریق- دیپړه- هغه غوښه چې ګربه او سره نه وی او ریپړه شان وی-

پرېدل:(پ-ري-دل)مصدر لازم- (۱)مېدل- سحر کېدل- د جادو لاندې راتلل- (۲)پرېدل- بې خایه او کړوو غوپدل-

پرېدل:(پـ-ري-دل)مصدر لازم- ملامتېدل- کرمېدل- مظلومېدل- ماتې خوړل-

پرېدلے:(پ-ري-دهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پرېدلی- مؤنث پرېدلې- وګورئ پرېدل-

پرېدلے:(پـ-ري-دهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پرېدلی- مؤنث پرېدلې- وګورئ پرېدل-

پرېدن:(پ-ري-دن)حاصل مصدر- وګورئ پرېدل-

پرېدن:(پـ-ري-دن)حاصل مصدر- وګورئ پرېدل-

پرېدنګ:(پ-ري-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ پرېدل-

پرېدنګ:(پـ-ري-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ پرېدل-

پرېدنه:(پ-ري-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پرېدل-

پرېدنه:(پـ-ري-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پرېدل-

پرېدونکے:(پ-ري-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پرېدونکی- مؤنث پرېدونکې- وګورئ پرېدل-

پرېدونکے:(پـ-ري-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پرېدونکی- مؤنث پرېدونکې- وګورئ پرېدل-

پرېدهٔ:(پ-ري-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ پرېدل-

پرېدهٔ:(پـ-ري-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ پرېدل-

پړی:(پ-ړي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)د کټو، خښتو، کاڼو یا خاورې په ترتیب سره جوړه شوې دلی یا انبار چې مختلف ځایونو کښې مختلف ږېدوالے، پلنوالے او بلندی لری- (۲)د غلې د بورو انبار- (۳)پوړی- (عامیانه)-

پړی:(پ-ړي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)پوښی- (۲)خلته- کڅوړی- کڅوړه- کوتی- (۲)د کاغذ نه جوړه شوې لفافه چې پکښې سودا وغیره ورکېدے شي-

پړی پړی:(پ-ړي-پ-ړي)اسم- قطار قطار- سر په سر- په منظم طریقې سره-

پړے:(پـ-ړے)اسم- واحد- مذکر- لهٔ مېږوی، سپېسو، وښو، لوښې، پلاستک، منجو، سنو یا داسې نورو څیزونو نه غښتلے شوے مزے- بدرېژه- رسی- بیاسته- جمع پړی-

پز:(پز)اسم صوت- پړ- پړ- تز- تېز- ګوز-

پز پربکړے:(پز-پړي-کـ-ړے)اسم صفت- (۱)پوز پربکړے- (۲)بې حیا- بې شرم- (۲)شرمېدلے- بې عزته شوے- جمع پز پربکړی- مؤنث پز پربکړې-

پزغمے:(پز-غه-مے)اسم- واحد- مذکر- چارګل- مېچک- مېخکے- خلے- تیک- د پوری یو پسول- جمع پزغمی-

پزنول:(پز-ن-ول)مصدر متعدی- چیت پیت کول- چخنی کول-

پزنولے:(پز-ن-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پزنولی- مؤنث پزنولې- وګورئ پزنول-

پزنون:(پز-ن-ون)حاصل مصدر- وګورئ پزنول-

پزنونګ:(پز-ن-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پزنول-

پزنونه:(پز-ن-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ پزنول-

پزول ۱:(پـ-ز-ول)مصدر متعدی- ویرول- بیرول- ډارول-

پزول ۲:(پـ-ز-ول)مصدر- (۱)پز وهل- په نشتر وینه ایستل- څیرل- (۲)غول- بدکاری کول- (عامیانه)-

پزولے:(پـ-ز-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پزولی- مؤنث پزولې- وګورئ پزول ۱-

پزولے:(پـ-ز-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پزولی- مؤنث پزولې- وګورئ پزول ۲-

پزون:(پـ-ز-ون)حاصل مصدر- وګورئ پزول ۱-

پزون:(پـ-ز-ون)حاصل مصدر- وګورئ پزول ۲-

پزونګ:(پـ-ز-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پزول ۱-

پزونګ:(پـ-ز-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پزول ۲-

پزونه:(پـ-ز-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ پزول ۱-

پزونه:(پـ-ز-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ پزول ۲-

پزونے:(پـ-ز-و-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پزونی- مؤنث پزونې- وګورئ پزول ۱-

www.pukhto.net

پزونے:(پ-زموونے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع پزونی- مؤنث پزونې- وګورئ پزول ۲-

پزونے:(پ-زونے)اسم- واحد- مذکر- پزومونے- د زخم څیرلو آله- نشتر- الماس-

پزومل:(پز-و-مَل)مصدر- پزول- پژومل- شلول- څیرې کول- د دانې یا بل کوم نوڅن زخم په نشتر څیرل-

پزوملے:(پز-و-مَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پزوملی- مؤنث پزوملې- وګورئ پزومل-

پزومنه:(پز-و-مَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ پزومل-

پزومونکے:(پز-و-مُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع پزومونکی- مؤنث پزومونکې- وګورئ پزومل-

پزه:(په-زه)اسم- واحد- مؤنث- پوزه- سوبه-

پزی:(پ-زی)اسم صفت- د پوزی سره متعلق- د پوزی نه جوړ شوے-

پزېدل ۱:(پ-زې-دل)مصدرِ لازم- (۱)خوښېدل- خښکېدل- پشېدل- خوش خوږل- (۲)ژوبل کېدل-

پزېدل ۲:(په-زې-دل)مصدرِ لازم- تېرېدل- تېېزونه لچول- پزېږ کول- (افغانستان)-

پزېدلے:(پ-زې-دَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پزېدلی- مؤنث پزېدلې- وګورئ پزېدل ۱-

پزېدلے:(په-زې-دَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پزېدلی- مؤنث پزېدلې- وګورئ پزېدل ۲-

پزېدن:(پ-زې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ پزېدل ۱-

پزېدن:(پ-رې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ پزېدل ۲-

پزېدنګ:(پ-رې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ پزېدل ۱-

پزېدنګ:(پ-رې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ پزېدل ۲-

پزېدنه:(پ-رې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ پزېدل ۱-

پزېدنه:(پ-زې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ پزېدل ۲-

پزېدونکے:(پ-رې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پزېدونکی- مؤنث پزېدونکې- وګورئ پزېدل ۱-

پزېدونکے:(پ-زې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پزېدونکی- مؤنث پزېدونکې- وګورئ پزېدل ۲-

پزېده:(پ-زې-دَه)حاصلِ مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ پزېدل ۱-

پزېده:(پ-زې-دَه)حاصلِ مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ پزېدل ۲-

پزے:(پ-زے)اسم- بوئېن- بوئ- ووم-

پژاوه:(پ-ژا-وه)اسم- واحد- مؤنث- پژه- خون- د کُلال د کچه خاورینو لوښو د پخولو بټی- جمع پژاوی-

پژرکے:(پ-ژر-کے)اسم صفت- (۱)قهرژن- غضب ناک- له غصې ډک- حملې ته تیار- (۲)خفه- (۳)ژر خفه کېدونکے- جمع پژرکی-

پژمرده:(پژ-مُر-ده)اسم صفت- واحد- مذکر- مړژواندے- خفه- مړسېن- جینجړ- مړغژن- مړغوژن- (م- فارسی)-

پژواک:(پژ-واک)اسم- واحد- مذکر- د یو ګل نوم- جمع پژواکونه-

پژوال:(پژ-وال)اسم- واحد- مذکر- (۱)خادم- نوکر- (۲)خوشامدګر- جمع پژوالان-

پژوالی:(پژ-وا-لی)اسم- د پژوال جوړېدو حالت- وګورئ پژوال-

پژه:(پ-ژه)اسم- واحد- مؤنث- پژاوه- خون- د کلال بټی- جمع پژې-

پړے:(پ-ړے)اسم- واحد- مذکر- جُثه- اندام- تواره- جمع پړی- (افغانستان)-

پږدل:(پږ-دل)مصدر- پږل- تراشل- تورل- تراشول- تروشل- (عامیانه)-

پږل:(پ-ږل)مصدر- تراشل- پږدل- تورل- تراشول- تروشول-

پږلے:(پ-ږ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پږلی- مؤنث پږلې- وګورئ پږل-

پږنه:(پ-ږ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ پږل-

پږونکے:(پ-ږون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پږونکی- مؤنث پږونکې- وګورئ پږل-

پږوے:(پږ-وے)اسم- واحد- مذکر- د تنستې سر او پښو ته لګېدلے لرګے- جمع پږوی- (افغانستان)-

پږے:(پږ-ږے)اسم- واحد- مذکر- (۱)سکه- وجود- څېره- بشره- مُشاده- (۲)بیچه- لیڅه- د لاس د ګټو نه تر څنګلې پورې حصه- جمع پږی-

پس:(پس)اسم صوت- (۱)معمولی او کمزورے اواز- نرے اواز- (۲)د هوا د خارجېدو اواز- (۳)پُسکی- پوسکی- پسکه-

پس:(پس)حرف- (۱)بیا- نو- وروستو- (م- فارسی)-

پس انداز:(پس-اَن-داز)اسم- باقی- بچت- وروستو پاتې-

پسات:(پ-سات)اسم- واحد- مذکر- فساد- شر- جمع پساتونه- (کول/جوړول مصدرونه)- (م- عربی فساد)-

پساتنه:(پ-سا-تَنه)اسم صفت- د "پساتی" مؤنث- فسادی ښځه- جمع پساتنې-

پساتی:(پ-سا-تی)اسم صفت- واحد- مذکر- فسادی- بد سړے- وران سړے- فساد جوړونکے- جګړمار- جمع پساتیان- (م- فسادی- فارسی)-

پساره:(پ-سا-ره)اسم- د "پسور" مغیره حالت-

پساری:(پ-سا-ری)اسم- واحد- مذکر- پنساری- د درانې د پاره د جاړو بوټو خرڅونکے- پرچون فروش- جمع پساریان- (م- هندی)-

پساله:(پسا-له)اسم- واحد- مذکر- د "پسول" مغیره حالت- کالسے- کاله-

ږ (ږی-رل)، ښ (ښي-ره-ول)، ی (یها-لی)، ے (تن-ے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

پسالۀ:(پسا-لۀ):د پسلول نه ماضي- خوشحال بابا)-

پسان:(پ-سان)اسم- واحد- مذکر- بلور- دَ بلور کانړے- توږے- د ګرخ کانړے- جمع پسانونه- (افغانستان)-

پساړ:(پ-ساړ)اسم- (۱)پاتې شوی شوروا- کنوبے- (۲)کنګخرے- کنګخرے- ګندخرے- (۳)هغه زمکه چې آخر کښې پرته وی او لۀ ټولو وروستو ابۀ کیږی- (۴)هغه ئېۀ چې حامي پکښې وریمخلے شي او بیا پکښې نوری جامې خوشتې شي-

پساني:(پ-سا-ني)اسم- (۱)د اوړولو یا ممده کولو کار- (۲)د اوړولو مزدوری- جمع پساني- (م- هندی)-

پسپا:(پس-پا)صفت- پۀ ماتې- (م- فارسی)-

پسپائی (پس-پا-ئي)اسم- د پسپا کېدو حالت- شکست- پۀ جنګ کښې وروستو کېدنه- (م- فارسی)-

پس پرده:(پ-سي-پر-ده)صفت- د پردې شا ته- پناه- پټ- چپ پۀ چپه- پۀ چپه خلۀ- (م- فارسی)-

پس پس:(پس-پس)اسم- واحد- مذکر- پس پس- دَ چا سره پۀ غوږ کښې پټې پټې خبرې-

پس پسے:(پس-پۀ-سے)متعلق فعل- پسې پسې- وروستو وروستو- رپسې-

پس پسے:(پس-پۀ-سے)اسم- واحد- مذکر- پس پس- غوږلوګی- د شونډو پۀ سر پټې پټې خبرې- پۀ غوږ کښې پټې خبرې- پسېدنه- جمع پس پسی-

پست:(پَست)اسم صفت- (۱)ټیکته- ټیټ- لاندې (۲)ذلیل- کمینه- پرېوتے- (م- فارسی)-

پستان:(پس-تان)اسم- جمع- مؤنث- دَ ښځې سینه- دَ تی سر- (م- فارسی)-

پستاندار (پس-تان-دار)اسم صفت- تی لرونکې- بې ورکونکې- (م- فارسی)-

پستکی:(پس-ت-کي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پستوکی- پوکنکی- (۲)نرم و نازک- (۳)دَ مینې پۀ بزل بچی ته ورتلے کیږی- (افغانستان)-

پستنه:(پس-ت-نه)متعلق فعل- (۱)واپس- واپسې- (۲)بیرته ګرځېدنه- شا ته- (۳)باقي- تے- الټی- کانګې- (افغانستان)-

پستو:(پس-تو)اسم- واحد- مؤنث- پۀ کمره کښې جوړه هغه بله کمره چې بکسونه پکښې اېښودے شي- صندوق خانه-

پستو:(پس-تو)اسم- واحد- مذکر- پسخانه- پس خونه- د بادشاه هغه سامان چې دَ دوی د روانېدو نه پس وړلے کیږی- جمع پستوګان-

پستوالے:(پست-وا-لے)اسم- (۱)پوستوالے- نرموالے- (۲)لاندی والے- ټیټوالے- جمع پستوالی-

پستور:(پس-ت-وَر)اسم- واحد- مذکر- پونه- نرم باران- نری څاڅکی- بورمک- نرمه شبکره- پشم- پسته ووړ- پوست ووړ- (م- پسته- نرم (مؤنث)- ووړ- باران)-

پستورکي:(پست-ور-کي)اسم- واحد- مؤنث- دَ پستورکی مؤنث- وګورئ پستورکے-

پستورکے:(پست-ور-کے)اسم- واحد- مذکر- مرمه از پسته وری لرونکے کې- مونث پستورکي-

پستوره:(پس-تو-رۀ)اسم- جمع- مذکر- پاستۀ اوړۀ- ترمېدہ- مندیه اوړۀ- ممده اوړۀ- (د پاستۀ اوړۀ محقق)-

پستوکے:(پس-تو-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)وګورئ پستکی- جمع پستوکی- (۲)د پوست اسم تصغیر- ډېر نرم-

پستول ۱:(پس-تول)اسم- واحد- مذکر- تماچه- هغه تماچه چې کاږے یا ګرخ نۀ لری- (م- انګریزی)-

پستول ۲:(پس-ت-ول)مصدر متعدی- (۱)نرمول- (۲)مېده کول- (۳)ډبول- بۀ وهل- ټکول-

پستون:(پس-ت-ون)حاصل مصدر- وګورئ پستول ۲-

پستونکے:(پس-ت-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پستونکی- مؤنث پستونکې- وګورئ پستول ۲-

پستونګ:(پس-ت-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پستول ۲-

پستونه:(پس-ت-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ پستول ۲-

پستونے:(پس-ت-و-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پستوني- مؤنث پستونې- وګورئ پستول ۲-

پستوونے:(پس-ت-وو-نے)اسم- واحد- مذکر- نرم لرګی لرونکې ونه چې دَ لیدو جوړولو دَ پاره بکارولے شي-

پسته:(پس-ته)اسم صفت- واحد- مؤنث- دَ پوست مؤنث- نرمه- ملائمه-

پسته:(پس-ته)متعلق فعل- وروستو- بیا- بل وار- بل ځل-

پسته:(پس-ته)اسم- دَ پښتو غوښه-

پسته:(پس-ته)حرف- د لس د وروستو کولو د پاره استعمالېدونکے توږے- مخ شه- (افغانستان)-

پسته:(پس-ته)اسم- واحد- مؤنث- دَ مغربی ایشیا پۀ ملکونو کښې کېدونکې د بادام پۀ شان یوه وړه ونه او د هغې مېوه- نباتاتی نوم پټا شیا وېراء- (م- فارسی- س- اطالوی، لاطینی او یونانی)-

پسته ووړ:(پس-ته-ووړ)اسم- وګورئ پستور-

پستي:(پس-تي)اسم- مؤنث- (۱)ذلت- لاندې والے- شکسته والے- (۲)ذلیل توب- جمع پستی- (م- فارسی)-

پستې:(پس-تې)اسم- واحد جمع- مؤنث- دَ ژبې آخر کښې حلق نه خوړنده غوښه- کنکی- حلقی- الکی- کنکی- ژبې- وړه ژبه-

پستېدل:(پس-تې-دل)مصدر لازم- (۱)نرمېدل- مېده کېدل- (۲)وهلے کېدل- ډبېدل- (۳)خبرې ته راضی کېدل- خبرې ته غاړه ایښول- (۴)غصه سړېدل-

پستېدن:(پس-تې-دن)حاصل مصدر- وګورئ پستېدل-

پستېدنګ:(پس-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ پستېدل-

پستېدونکے:(پس-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پستېدونکی-

زبر"(خ-بۀ-رہ)، زورکے"(شل)، پېښ"(نو-کا-رہ)، زیر"(کتاب)، جزم"(شکون)، "ۀ"(ز-وہ)، "ۀ"(پو-ښې-دۀ)

مؤنث پستېدونکې- وګورئ پستېدل-

پستېدۀ:(پس-تې-دۀ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ پستېدل-

پستې:(پ-س-تې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- بازيګره- بازيګره کوتره-

پسخاک:(پس-خاک)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پخساک-

پسخاکی:(پس-خا-کی)اسم- د پسخاک سره متعلق-

پسخانه:(پس-خا-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پستو- جمع پسخانې-

پسخاوه:(پس-خا-وه)اسم صفت- خټيل- کرلے- دَ پښېدلی او خوښېدلی څيز نه اېستې اَبۀ- پساوه-

پسخند:(پس-خند)اسم- واحد- مذکر- پېشاړه- ملنډه- پېچموزه- ټوقه- (م- فارسی)-

پسخندے:(پس-خن-دے)اسم فاعل- واحد- مذکر- پېشاړې کوونکے- ټوقې کونکے- رېشخند- ټوقمار- جمع پسخنديان- مؤنث پسخنده- جمع مؤنث پسخنديانې-

پس خورده:(پس-خور-ده)اسم- (۱)پاتې شوے خوراک- پاتې شونے- جوټه- (۲)کنګر- کنګر- (م- فارسی)-

پسخول:(پس-خول)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ اړې دَ خلې بوره- (۲)پوګ-

پسخول:(پس-خ-ول)مصدر- وګورئ پخسول-

پسخون:(پس-خ-ون)حاصل مصدر- وګورئ پخسول-

پسخونګ:(پس-خ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پخسول-

پسخونه:(پس-خو-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پستو-

پسخونه:(پس-خه-وڼه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پسخول-

پسخه:(پس-خه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پخسه-

پسخېدل:(پس-خې-دل)مصدر لازم- وګورئ پخسېدل-

پسخېدن:(پس-خې-دن)حاصل مصدر- وګورئ پسخېدل-

پسخېدنګ:(پس-خې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ پسخېدل-

پسخېدنه:(پس-خې-دڼه)حاصل مصدر- وګورئ پسخېدل-

پسخېدونکے:(پس-خې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پسخېدونکی- مؤنث پسخېدونکې- وګورئ پسخېدل-

پسخېدۀ:(پس-خې-دۀ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ پسخېدل-

پسر:(پ-سر)اسم- واحد- مذکر- خوئ- زوئ- (م- فارسی)-

پسر:(پ-سر)اسم- وروستو کېدنه- وعده خلاف کېدنه- (کېدل مصدر)-

پسرلنے:(پسر-ل-نے)اسم صفت- د پسرلی يا سپرلی سره تعلق لرونکے- (افغانستان)-

پسرلے:(پسر-لے)اسم- واحد- مذکر- سپرلے- بهار- بهار- د ګلونو موسم- ګوړمنے- د ژمی او دَ اوړی تر منځه دَ کال هغه ګلورمه حصه چې پکښې ونې بوټی وغيره زرغونيږی- جمع پسرلی-

پسرو:(پس-رو)اسم- واحد- مذکر- (۱)پېرو- پسې تلونکے- وروستو تلونکے- خادم- نوکر- مريد- تابع- پېروکار- (م- فارسی)- (۲)غيبت- (افغانستان)- جمع پسروان-

پسرور:(پس-ر-ور)اسم صفت- واحد- مذکر- پلن- چې عرض ئې زيات وی- سورور- پسور ور- (افغانستان)-

پسرول:(پ-س-ر-ول)مصدر متعدی- د سر د پاسه د لباس پۀ پول اېښول-

پسروونے:(پ-س-ر-وو-نے)اسم- واحد- مذکر- پړونے- څادر- غلاف- کمبل- شال- سدری- لوپټه- هغه ستر څادر چې زنانه ئې پسروی- جمع پسرووني-

پسروی:(پس-ر-وی)اسم- مؤنث- تابعداری- تقليد- د پېروکار حوړمدو حالت- (م- فارسی)-

پس شاه:(پ-س-شا)متعلق فعل- وګورئ پسې شا-

پسکاڼ:(پس-کا-ڼ)اسم صفت- (۱)پوسکاڼ- پسکن- هغه څوک چې زياتې پسکی اچوی- پسکنې- (۲)رپل- بزدل- مؤنث پسکاڼه- جمع مؤنث پسکاڼې-

پسکاڼه:(پس-کا-وڼه)اسم صفت- واحد- مؤنث- دَ پسکاڼ مؤنث- وګورئ پسکاڼ-

پسکن:(پس-کن)اسم صفت- وګورئ پسکاڼ-

پسکن:(پس-کن)اسم صفت- وګورئ پسکاڼ- مؤنث پسکنه- جمع مؤنث پسکنې-

پسکورے:(پس-کو-رے)اسم- واحد- مذکر- پېسکورے- ووړکے پسۀ- جمع پسکوری-

پسکه:(پس-که)اسم- واحد- مؤنث- جرګی- پوسکی- پسکی- ټس- پس- جمع پسکې-

پسکه:(پس-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ورسته بېړی- ورسته- (۲)هر شکينه وروست څيز- (افغانستان)-

پسکې:(پس-کې)اسم- جمع- مؤنث- غورلوګی- پټې پټې خبرې- پس پس-

پسکی:(پس-کی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- پوسکی- پسکه- هغه هوا چې د کېږې نه دَ مقعد پۀ لار بغير لۀ اوازه خارجيږی-

پسل:(پ-سل)اسم- واحد- مذکر- فصل- (۱)پېداوار- جمع پسلونه- (۲)زاوړل- زعمل- وړل-

پسماندګی:(پس-مان-ده-ګی)اسم- د پسمانده کېدو حالت- وګورئ پسمانده- (م- فارسی)-

پسمانده:(پس-مان-ده)اسم- واحد- مذکر/مؤنث- وارث- ميراث خور- ميراث خور- دَ مړی اولاد- جمع پسماندګان- (م- فارسی)-

پسمانده:(پس-مان-ده)اسم صفت- (۱)وروستو پاتې- د ترقی نه شا ته پاتې- (۲)بچت- باقی پاتې شوے- (م- فارسی)-

پس مرګی:(پس-مر-ګی)متعلق فعل/صفت- (۱)دَ پلار لۀ مرګه پس پېدا

ئ- (ځی-ږل)، ئ(ځې-ږو-ول)، ګ(ګيا-لئ)، ے(تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

شوې- (۲)لهٔ مرګه پس-

پس منظر:(پس-من-ظر)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ منظر شا ته موجود خو پهٔ نظر نهٔ راتلونکے- (۲)د یوې واقعې اصل محرک او علت چې ګرګند نهٔ ښکاري- (م- فارسي)-

پسند:(پسند)اسم صفت- خوښ- غوره- (م- فارسي)-

پسندل:(پسن-دل)مصدر- غوره کول- خوښول- (دَ فارسي پښتو مرکب)-

پسندلے:(پسن-دهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پسندلي- مؤنث پسندلې- وګورئ پسندل- (د فارسي پښتو مرکب)-

پسندنه:(پسن-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پسندل- (دَ فارسي پښتو مرکب)-

پسندول:(پسن-د-ول)مصدر- پسندل- غوره کول- خوښول- (دَ فارسي پښتو مرکب)-

پسندونکے:(پسن-ده-ورن-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پسندونکي- مؤنث پسندونکې- وګورئ پسندول- (د فارسي پښتو مرکب)-

پسندونه:(پسن-ده-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ پسندول- (دَ فارسي پښتو مرکب)-

پسندونے:(پسن-ده-ور-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پسندوني- مؤنث پسندونې- وګورئ پسندول- (دَ فارسي پښتو مرکب)-

پسنده:(پ-سن-ده)اسم- واحد- مؤنث- د غوښې وړه پارچه چې لیوه لیوه وټکولې شي او بیا غوړو کښې سره شي- جمع پسندې-

پسنده:(پسن-ده)اسم صفت- خوښه- غوره- قبوله-

پسندي:(پسن-دي)اسم صفت- خوښه- (د فارسي پښتو مرکب)-

پسندیده:(پ-سن-دي-ده)اسم صفت- خوښ- عزیز- مرغوب- محبوب- (م- فارسي)-

پسندېدل:(پسن-دي-دل)مصدر لازم- خوښېدل- پسند کېدل- منتخبېدل- (دَ فارسي پښتو مرکب)-

پسندېدن:(پسن-دي-دن)حاصل مصدر- وګورئ پسندېدل- (دَ فارسي پښتو مرکب)-

پسندېدنه:(پسن-دي-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پسندېدل- (دَ فارسي پښتو مرکب)-

پسندېدونکے:(پسن-دي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پسندېدونکي- مؤنث پسندېدونکې- وګورئ پسندېدل- (دَ فارسي پښتو مرکب)-

پسندېدهٔ:(پسن-دي-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ پسندېدل- (د فارسي پښتو مرکب)-

پسندے:(پسن-دے)اسم- واحد- مذکر- دَ مېښتو لوبه- دَ ببېږو لوبه-

پسنېدل:(پس-نې-دل)مصدر لازم- پس پس کول- ورو ورو خبرې کول- پټ غږېدل- غوږې غوږې کېدل- (افغانستان)-

پسنېدن:(پس-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ پسنېدل-

پسنېدنګ:(پس-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ پسنېدل-

پسنېدنه:(پس-نې-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پسنېدل-

پسنېدونکے:(پس-نې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پسنېدونکي- مؤنث پسنېدونکې- وګورئ پسنېدل-

پسنېدهٔ:(پس-نې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ پسنېدل-

پسو:(پ-سو)حرف- پهٔ څو- پڅو- (متروک)-

پسوا:(پس-وا)متعلق فعل- پڅې شاه- پڅلا- پسې شاه- شا ته- (افغانستان)-

پس و پېش:(پ-سو-پېش)اسم- (۱)انه بانه- پېل- (۲)وړاندې وروستو-

پسوتل:(پسو-تل)مصدر- رسېدل-

پسوتلے:(پسو-تهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پسوتلي- مؤنث پسوتلې- وګورئ پسوتل-

پسوتن:(پسو-تن)حاصل مصدر- وګورئ پسوتل-

پسوتنګ:(پسو-تنګ)حاصل مصدر- وګورئ پسوتل-

پسوتنه:(پسو-تهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پسوتل-

پسوتونکے:(پسو-تون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پسوتونکي- مؤنث پسوتونکې- وګورئ پسوتل-

پسور:(پسور)اسم- واحد- مذکر- (۱)پېر- سور- عرض- پلنوالے- (۲)پهانټ- رخت- موده-

پسورور:(پسو-ر-ور)صفت- پلن- سورور- پسرور-

پسوروړے:(پسو-ر-وهٔ-ړے)صفت- خوروړ- تس نس- جمع پسوروړي-

پسوکے:(پسو-کے)اسم تصغیر- ووړکے پسهٔ- جمع پسوکي-

پسول:(پسول)اسم- واحد- مذکر- ګانه- کالے- جمع پسولونه/پسالهٔ-

پسول:(پ-سه-ول)مصدر متعدي- څکول- لهٔ چیلمه زیات لوګے اېستل- پهٔ سیګرټ، چیلم او پائپ باندې دَ خرو‌سکو جوړول- (افغانستان)-

پسولل:(پسو-لل)مصدر متعدي- سینګارول- ښائسته کول- پولی کول- کالي ور اچول- (افغانستان)-

پسوللے:(پسو-لهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پسوللي- مؤنث پسوللې- وګورئ پسولل-

پسوللنه:(پسو-لهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پسولل-

پسولول:(پسو-ل-ول)مصدر متعدي- (۱)پسولل- کالي وراغستل- (۲)پولی کول- ښائسته کول-

پسولونکے:(پسو-ل-ورن-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پسولونکي- مؤنث پسولونکې- وګورئ پسولول-

پسولونه:(پسو-ل-وهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پسولول-

پسولېدل:(پسو-لې-دل)مصدر لازم- سینګارېدل- ښائسته کېدل- ښکلے کېدل- (افغانستان)-

پسولېدلے:(پسو-لې-دهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پسولېدلي-

www.pukhto.net

مؤنث پسولېدلې- وګوری پسولېدل-

پسولېدونکے:(پسو-لي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پسولېدونکی- مؤنث پسولېدونکې- وګورئ پسولېدل-

پسولېدن:(پسو-لي-دن)حاصل مصدر- وګورئ پسولېدل-

پسولېدنګ:(پسو-لي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ پسولېدل-

پسولېدنه:(پسو-لي-دنه)حاصل مصدر- وګورئ پسولېدل-

پسولېدهٔ:(پسو-لي-دهٔ)حاصل مصدر او دٔ ماضی استمراری دٔ واحد غائب صيغه- وګورئ پسولېدل-

پسه:(پ-سه)اسم- واحد- مذکر- هغه ګډ چې جرګې ته ورکولے شي- جمع پسونه-

پسه:(پ-سه)اسم- واحد- مؤنث- درمند کښې جمع کړے شوی کېډی- جمع پسې-

پسه:(پ-سه)متعلق فعل- پس ته- بيا- پس دٔ دې نه- وروستو-

پسه:(پ-سه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پسکه یا پوسکې-

پسه:(پ-سه)اسم صفت- ساده- بې عقل- نابوهه- عاجز- شوده-

پسه:(پ-سه)اسم- واحد- مذکر- يو خوندناک خوراک چې دٔ مېده کړيو شوږ اوړو او غوړو نه تیارولے شي- جمع پسې-

پسهٔ:(پسهٔ)اسم- واحد- مذکر- ګډ- څېرلے- چېلے- چېرلے-

پسهار:(پس-هار)اسم صوت- پس پسے- پسهارے- پس پس کونه- په غوږ کښې پس پس کونه-

پسهارے:(پس-ها-رے)اسم صوت- وګورئ پسهار-

پسی:(پ-سی)اسم صفت- کبرژن- مغرور-

پسین:(پ-سين)اسم صفت- آخرنے- وروستنے- آخری- (م- فارسی)-

پسینه:(پ-سی-نه)اسم صفت- وروستنے- دمنينه ضد- دٔ خپل وخت نه پس کرلے فصل-

پسیه:(پ-س-يه)اسم- واحد- مؤنث- پسری- دٔ ښهون هغه انعام چې دٔ وری یا ورغومی پېدا کېدو په موقع هغهٔ لره دٔ مال خاوند ورکوی- (افغانستان)-

پسې:(پ-سې)حرف جار- ورپسې- وروستو- شا ته-

پسې پسې:(پ-سې-پ-سې)اسم- ورپسې- وروستال- اخير- وروستو-

پسې شا:(پ-سې-شا)متعلق فعل- غيب کښې- غير موجودګی کښې- (اصل معنیٰ دٔ شا (ملا) نه وروستو)-

پسېدل:(پ-سې-دل)مصدر لازم- پس پس کول- پټې پټې خبرې کول-

پسېدن:(پ-سې-دن)حاصل مصدر- وګورئ پسېدل-

پسېدنګ:(پ-سې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ پسېدل-

پسېدنه:(پ-سې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ پسېدل-

پسېدونکے:(پ-سې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پسېدونکی- مؤنث پسېدونکې- وګورئ پسېدل-

پسېدهٔ:(پ-سې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری دٔ واحد غائب صيغه- وګورئ پسېدل-

پسېره:(پ-سې-ره)متعلق فعل- (۱)سر بېره په دی- علاوه لهٔ دې نه- (۲)دٔ پاسه- ماندې- پر- (افغانستان)-

پسېرېدل:(پ-سې-ری-دل)مصدر لازم- سربېره کېدل-

پسېرېدن:(پ-سې-ری-دن)حاصل مصدر- وګورئ پسېرېدل-

پسېرېدنګ:(پ-سې-ری-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ پسېرېدل-

پسېرېدنه:(پ-سې-ری-دنه)حاصل مصدر- وګورئ پسېرېدل-

پسېرېدونکے:(پ-سې-ری-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پسېرېدونکی- مؤنث پسېرېدونکې- وګورئ پسېرېدل-

پسېرېدهٔ:(پ-سې-ری-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ پسېرېدل-

پسی:(پ-سی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پاسی- پانسی- زندی- په خوږنده مرګ- (۲)دار- سولی- غرغره-

پسے:(پ-سے)اسم- واحد- مذکر- موسی-

پسے:(پ-سے)اسم- واحد- مذکر- ککرے- پسه- هغه زېږے چې دٔ کور دٔ خاوند لهٔ حوا ښهون ته دٔ وری دٔ پېدا کېدو په وخت کښې ورکولے شي- (۲)دٔ چینی د پېدا کېدو په مناسبت شیرینی- جمع پسی-

پسے:(پ-سے)اسم- واحد- مذکر- چېلے- چېلی- کډه- سویه او داسې نور ځناور-

پش:(پش)اسم- واحد- مذکر- پیش- پشے- پشک- جمع پشان- مؤنث پشه- جمع مؤنث پشې-

پش:(پش)اسم صوت- د مار آواز- د باد آواز- پشهار- پرش- دٔ بولو آواز- پش پشے- پش پش-

پشار:(پ-شار)اسم- واحد- مذکر- پېروے- ملانی- قيماق- ارباش- رش- قيماغ- جمع پشارونه-

پشاره:(پ-شا-ره)اسم- واحد- مؤنث- وښته- ملنده- پېچموزه- مسخره- جمع پشارې (کول، جوړول مصدرونه)-

پش پش:(پش-پش)اسم صوت- ووړکی ماشوم ته دٔ موتیازو کولو په وخت استعمالېدونکے آواز-

پش پش:(پش-پش)اسم صوت- پیش پیش- د پیشوګانو دٔ رابللو آواز- پشې-

پشت:(پشت)اسم صوت- دٔ پیشو د شړلو آواز- پش شه- پشې- پیشې- پشته-

پشت:(پشت)اسم- دٔ نیم پخته اربشو په معجون اوړهٔ شوی اوړهٔ-

پشت:(پشت)اسم- واحد- مذکر- خاندان- نسل- خېل- پېړی-

پشت:(پشت)اسم- واحد- مذکر- د جرګې په کېډه کښې دٔ اګی ځای- (۲)دٔ جرګې په یو مخ اچولې اګی-

پشتاره:(پش-تا-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)انبار- (۲)ډېر مقدار- بوج- ډېرے- انبار- دلی- جمع پشتارې- (م- فارسی)-

پشتاره:(پش-تا-ره)اسم- واحد- مؤنث- دٔ کلرمو بوکری-

www pukhto.net

پشت پنا:(پُشت-پـنا)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ساتونکے- محافظ- ساتندویه- (۲- اسم)دَ لویو خلقو ملاورچیخانه- (م- فارسی)-

پشت پنائی:(پُشت-پـنا-ئی)اسم- ساتنه- حمایت- مدد- (م- فارسی)-

پشتپی:(پش-تَ-پی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پشتی پا-

پشتک:(پش-تک)اسم صفت- واحد- مذکر- پیشاکے- پیشتے- لنډے- د وړوکی قد لړوکے-

پشتک:(پش-تک)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ اسونو یوه بیماری- (۲)دَ ماشومانو یوه لوبه-

پشتواره:(پشت-وا-ره)اسم- واحد- مؤنث- د ګلونو ټوکری- پشتاره-

پشته:(پُش-ته)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ټکر- بند- پانګه- دَ سیلابی اُبو دَ مخ نیوی د پاره د خټو کاږو جوړه پېری- (۲)هغه کیږه یا چمړه چې جلد ساز ئې د کتاب شا ته لګوی- متوا- وقایه- (۲)پږه- دَ غوږ یا غنډی پړه-

پشته:(پش-ته)اسم صوت- د پیشو د شړلو اواز-

پشته پایه:(پش-ته-پا-یه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پشتی پا-

پشتی:(پش-تی)اسم- واحد- مؤنث- تیک- پیشتی- پوشتی- زور دیوال ته د مضبوطیا په غرض وهلے شوے وړوکے دیوال یا پیه-

پشتی:(پش-تی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مرسته- (۲)یو وړوکے ښکاری سپے-

پشتی پا:(پش-تی-پا)اسم- دَ پښې هغه حصه چې ګټې ګټې او وریښې ګټې ته مخامخ او لږه غندی بهر ته راوتې وی- پیشتی پا- پشته پایه- پشتپی-

پشتے:(پش-تے)اسم- واحد- مذکر- پاپی کک- چینی کک- پسنه- یو وړوکے سپین سپے-

پشخل:(پش-خل)اسم- واحد- مذکر- کنکخرے- کنکخړے- نیرړوے- کند خرے- دَ سیلاب اُبو راوړے خس و خاشاک-

پشخور:(پـ-ش-خور)اسم- واحد- مذکر- کلک لرګے لرونکے یوه ونه چې دَ یوی کندی تری جوړیږی-

پشخورکه:(پش-خو-ر-که)اسم- واحد- مؤنث- یوه غرنیزه ونه چې میوه ئې وړه شان وی- جمع پش خورکې-

پشرل:(پش-رل)اسم- واحد- مذکر- دَ ګډی دوه کلنے بچے-

پشرلے:(پش-ره-لے)اسم- واحد- مذکر- د چیلی وړوکے بچے- بره چیلوکے- جمع پشرلی- مؤنث پشرلی-

پش غوږه:(پش-غو-ږه)اسم- سپین غوږونه لرونکې چیلی-

پشقاب:(پش-قاب)اسم- واحد- مذکر- پشکاب- پرچ- غاب- رکبی- مشقاب- ناښکے- لوښکے-

پشک:(پشک)اسم- واحد- مذکر- سپوږے- پیشک- دَ ګرمئ یوه متعدی بیماری-

پشک:(پـ-شک)اسم- واحد- مذکر- ټپوس- ټپس- مُردار خور ټپوس- ګدو- ګرګس- ګرکس- جمع پشکان-

پشکاب:(پش-کاب)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پشقاب-

پشکال:(پـ-ش-کال)اسم- واحد- مذکر- د فصلی کال ځلورمه میاشت- ساون- پشکال- د اوړی دَ بارانونو موسم-

پشکالی:(پـ-ش-کا-لی)اسم- واحد جمع- مؤنث- برسانی- بارانی- د باران کوټ-

پشکالے:(پـ-ش-کا-لے)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه میوه یا فصل چې پشکال کښې رارسی یا کرلے شی- (۲)په پشکال کښې ریبلی شوی وُچ واښه- (۲)هغه سوررنګے چیچے چې په پشکال کښې پیدا کیږی او کبان پری نیولے کیږی-

پشکډے:(پش-کن-ډے)اسم- واحد- مذکر- دَ پیشو بچے- پشونګړے- جمع پشکډی-

پشکه:(پش-که)اسم- واحد- مؤنث- داره- د اُبو یا د وینې داره- پلپشکه- جمع پشکې-

پشکی:(پش-کی)اسم- واحد جمع- مونث- دَ پشکی مؤنث- وګورئ پشکے-

پشکے:(پش-کے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم زهرژن مار- جمع پشکی-

پشکے:(پش-کے)اسم- (۱)نرم دست- (۲)لوئ بول چې لکه دَ اُبو نری وی- جمع پشکی-

پشلا:(پـ-ش-لا)متعلق فعل- (۱)پښی شا- په شا- په غیر موجودګی کښې- پسی شا- (۲)په ځټ کښې- (امانستان)-

پشلره:(پش-لـ-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ اخنک-

پشلے:(پـ-ش-لے)اسم- دَ تودو مالګانو دَ کاشوغې په ذریعه سرونه-

پشم:(پـ-شم)اسم- واحد- مذکر- (۱)وړی- (۲)برخه- نرے باران- ښورک- شوغ- پشمک- (۲)پیر نازک او نرم ویښته- (۴)دَ شرمګاه ویښته- (۵)بې حقیقته سړے- (م- فارسی)-

پشمکه:(پش-م-که)اسم- واحد- مؤنث- زمی- یو قسم بوټے چې دَ جامو ویحلو د پاره پکارولے شي-

پشمنے:(پش-م-نے)اسم- واحد- مذکر- پرشمے- پش نمے- چربانګے- جمع پسمی-

پشمی:(پش-می)اسم صفت- وړین- د وړی نه جوړ- اونی-

پشمین:(پش-مین)اسم صفت- پشم لرونکے- نرم- دَ وړی نه جوړ-

پشمینه:(پش-می-نه)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)پشمی- وړینه پشم لرونکې- (۲)یوه وړینه جامه-

پشمینه:(پش-می-نه)اسم- واحد- مؤنث- ریښمینه- پشمی لوپټه چې دَ پامه پری نرے نرے پشم یا غونے یا بړ وی-

پشمے:(پش-مے)اسم- واحد- مذکر- جونګے- دَ اوښ دوه کلنے بچے- جمع پشمی-

پشندے:(پـ-شن-دے)اسم- واحد- مذکر- بقندے- چورلندے- د ماشومانو د لوبو یو پرپرکے- جمع پشندی-

پشنګ:(پـ-شنګ)اسم- واحد- مذکر- هغه قچر، اس یا خر چې دَ کاروان په

سر کښې روان وی- (افغانستان)-

پشنګوړے:(پ-شنګ-ګو-ړے)اسم- واحد- مذکر- دَ پیشو بچے- پیشګوړے- پیشوګړے-

پشو:(پ-شو)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پیشو- جمع پشوګانې-

پشوا:(پش-وا)حرف جار- پسې شا- پښی شا-

پشواز:(پش-واز)اسم- واحد- مذکر- (۱)خلکی- دَ لمنې دَ کپا جامه چې ګنداره وی- (۲)یو قسم قمیص- جمع پشوازونه-

پشوپرانګ:(پ-شو-پرانګ)اسم- واحد- مذکر- پشوپړان- پیشوپرانګ- ځنګلی پیش-

پشوپړی:(پ-شو-پړی)اسم- واحد جمع- مؤنث- په پښتوس (غندسکه) کېدونکې دَ ماشومانو یوه لوبه- (افغانستان)-

پشوخت:(پ-شو-خت)اسم- واحد- مذکر- (۱)پیشوخت- یو خوږو وړوکے بوټے او دَ هغهٔ ګل چې زمیندار یې عوایانو ته غاړه کښې اچوی- (۲)دَ لوبو یو شے چې لاندینی حصه یې دروند وی او چې کله یې په زمکه کیږدی نو نیغ ودریږی- (۲- صفت)- چُست او چالاک تیمرے سړے-

پشوکی:(پ-شو-کی)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)د پشوکی مؤنث- وګورئ پشوکے ۱- (۲)وګورئ پشوکے ۲-

پشوکے:(پ-شو-کے)اسم- واحد- مذکر- نر پیش- پیشوکے- پشکر- پشکوټے- پشنګوړے- د پیش بچے-

پشوکے:(پ-شو-کے)اسم- واحد- مذکر- پیشوکے- په غنمو شوتلو او ببرو وغیره کښې پیدا کېدونکې حشره- جمبور-

پشول:(پ-شول)مصدر متعدی- پرشول- دَ مار غصه کول-

پشولمے:(پ-شول-مے)اسم- واحد- مذکر- جینجې-

پشومپړی:(پ-شوم-پړی)اسم- واحد جمع- مؤنث- پغوغے- ایخنج- یوه لوبه چې وارهٔ په پښتوس یو بل ولی-

پشونګړے:(پ-شونګ-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ پیشو بچے- (۲)وړوکے څیز-

پشه:(پ-شه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پیشو- پښی- جمع پشې- (۲- اسم صوت)پشې- پشتکې- پیشتې- پشتې-

پشه:(پ-شه)اسم- واحد- مؤنث- زمے- توکم- تپه- پله- قام- ټولے- فرقه- جمع پشې-

پشه:(پ-شه)اسم- واحد- مؤنث- پشک-

پشه بند:(پ-شه-بند)اسم- واحد- مذکر- مچردانی- منګس خانه- پشه خانه- هغه جالی چې دَ کټ یا چپرکټ دَ پاسه دَ کوټې په شکل جوړیږی چې دَ ماشو دَ ننوتلو مخه ونیسی- (افغانستان)-

پشه خانه:(پ-شه-خا-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پشه بند-

پشه خورکه:(پ-شه-خور-مکه)اسم- واحد- مؤنث- ماشی یا مچان خوړونکې یوه مرغۍ-

پشهار:(پ-شه-هار)اسم صوت- دَ مار یا مږه دَ پس پش اواز- پشهار-

پشی سا:(پ-شی-سا)متعلق فعل- پسی شا- وګورئ پسې شا-

پشیر:(پ-شیر)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پشیزه-

پشیزه:(پ-شی-زه)اسم- واحد- مؤنث- یوه کم قیمته پخوانی سکه- جمع پشیزې-

پښی:(پ-ښی)اسم صوت- د پیشو د شړلو اواز- پیشې- پیشته- پیشتی- پیسی-

پښې:(پ-ښې)اسم- واحد جمع- مؤنث- متیازې- (دَ ماشومانو توری)-

پښې کړه:(پ-ښې-ک-ړه)صفت متعلق فعل- پینه کړه- مخ په شا- اپوټه-

پښېدل:(پ-ښې-دل)مصدر لازم- پرشېدل- دَ مار اواز ویستل- دَ مار روانېدل-

پښېدن:(پ-ښې-دن)حاصل مصدر- وګورئ پښېدل-

پښېدنګ:(پ-ښې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ پښېدل-

پښېدنه:(پ-ښې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ پښېدل-

پښېدونکے:(پ-ښې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پښېدونکی- مؤنث پښېدونکې- وګورئ پښېدل-

پښېدهٔ:(پ-ښې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ پښېدل-

پښېرلے:(پ-ښېر-لے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پشرلے-

پښېره:(پ-ښې-ره)اسم- واحد- مؤنث- یوه وړه کم قیمته پخوانی سکه- پسیره- (م- فارسی)-

پښی:(پ-ښی)اسم- واحد جمع- مؤنث- پښه- پیشی- سهیشو- پشکی- یو قسم چینجے چې خارښت لګوی-

پښی:(پ-ښی)اسم- واحد جمع- مؤنث- دمه غمه- چنې چې په اوړ کښې نیښې کیږی- ترارهٔ- پاړهٔ- الوی- (افغانستان)-

پښے:(پ-ښے)اسم- واحد- مذکر- وړوکی او غټو شان غوروته لرونکے ګب-

پښے:(پ-ښے)اسم- واحد- مذکر- دَ کاڼو په دریعه د دوو ماشومانو تر مېنځه کېدونکې لوبه- جمع پښی-

پښے:(پ-ښے)اسم- واحد- مذکر- پښته- پست- پس- پړی- قبیله- خاندان- جمع پښی-

پښ:(پښ)اسم- واحد- مذکر- لوهار- اینګر- پش- جمع پښان-

پښ:(پښ)اسم صوت- پش- دَ مار یا د هوا د چلېدو اواز-

پښانګه:(پ-ښانګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- د مشک پښه- د غرګې پښې-

پښاوندے:(پښا-ون-دے)اسم- واحد- مذکر- پښوندے- پښندے- د څناور د پښې ترلو پړے یا رسی- جمع پښاوندی-

پښاوړے:(پ-ښا-وړے)اسم- خیره پښوته- مضبوطیا-

پښبنی:(پښ-بنی)اسم- واحد- مؤنث- دَ څرمنې نه جوړه بنی چې لوهار، اینګر یې په خپل دوکان کښې د اور تیرولو دَ پاره استعمالوی- (افغانستان)-

ی (ښی-ول) ي(اصې-ومول)، ئ(پیاملی)، ـے(تن-دیر) تفصیل د پاره وګورئ ټ سحاب صفحه ۱

www.pukhto.net

پس پسې:(پس-پهٔ-پسې)اسم صفت- هغه سړے چې اواز يې ناسته وي- جمع پس پسي- مؤنث پس پسې- جمع مؤنث پس پسې-

پښت:(پښت)اسم- واحد بجمع- مذکر- (۱)استو- ستون- نيغې شوي جوار يا غنم چې اوړهٔ کړے شي او بيا ورسره ګړه ګډه کړے شي- (۲)اوړهٔ کړے توت- (افغانستان)-

پښت:(پښت)اسم- واحد- مذکر- خاندان- نسل- پيړی- پشت- خيل- ټبر- اصل- پښه- نسل- ريښه-

پښتنهٔ (پښ-تنا-نهٔ)اسم- جمع- مذکر- دَ پښتون جمع- دَ ډېر لهٔ او پهٔ نه ورو ستو دَ پښتون مغيره حالت لکه دَ پښتانهٔ-

پښت پهٔ پښت (پښت-پهٔ-پښت)اسم (مُرکب)- پُش پهٔ پُش- پيړی پهٔ پيړی- پشت پهٔ پشت-

پښتل:(پښ-تل)مصدر- تپوس کول- سوال کول-

پښتلے:(پښ-تهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پښتلی- مؤنث پښتلې- وګوری: پښتل-

پښتنواله:(پښ-تن-وا-له)اسم- مؤنث- (۱)پښتونواله- پښتنوالی- دَ پښتنو دود دستور- (۲)غيرت- (۳)وفاداری- (۴)دَ پښتنو ضابطه اخلاق-

پښتنوالے:(پښ-تن-وا-لے)اسم صفت- پښتونولی- وګوری: پښتنواله-

پښتنه:(پښ-ت-نه)اسم- واحد- مؤنث- دَ پښتون مؤنث- پښتنه ښځه-

پښتنه:(پښ-تهٔ-نه)اسم- واحد- مؤنث- تپوس- اجازت- جمع پښتنې-

پښتنی:(پښ-ت-نی)اسم صفت- دَ پښتون دَ شان سره سم- دَ پښتون متعلق- (موے لفظ)-

پښتو:(پښ-تو)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ پښتو ژبه- (۲)ننګ- غيرت- (۳)دَ پښتو دود دستور- (۴)پښتونواله-

پښتوب:(پښ-توب)اسم- دَ لوهاری کار- پښکيرت- پښکيری-

پښتورګے:(پښ-ت-ور-ګے)اسم- واحد- مذکر- ګُرده- بوړګے- هغه اندام چې مثې متيازې تری پوکنی نه ځی-

پستورګے (پس-تهٔ-ور-ګے)اسم- واحد- مذکر- دَ بادام پهٔ شان ميوه نيونکې سوه غرنيره ونه- جمع پښتورګی-

پښتو ژبے:(پښ-تو-ژهٔ-بے)اسم- واحد- مذکر- پښتو ويونکے- هغه څوک چې پښتو وائی-

پښتون:(پښ-تون)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ پښتانهٔ لهٔ نسله- دَ پښتون قام نر غړے- (۲)پښتون قوم- (۳)غيرتی- دَ ښو اخلاقو خاوند- دَ ننګ او پت خاوند- (۴)جمع پښتانهٔ-

پښتونخا:(پښ-تون-خا)اسم- واحد- مؤنث- پښتونخوا- دَ پښتنو سيمه- دَ پښتنو دَ وسېدو ځای-

پښتونخوا:(پښ-تون-خوا)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: پښتونخا-

پښتونګلوی:(پښ-تون-ګل-وی)اسم- پښتونولی- پښتونواله- پښتنواله- دَ پښتنو دود دستور-

پښتونواله:(پښ-تون-وا-له)اسم- وګوری: پښتنواله-

پښتونولی:(پښ-تون-و-لی)اسم صفت- وګوری: پښتونګلوی-

پښته:(پښ-ته)اسم- مؤنث- (۱)پېره وچته زمکه- (۲)دَ انګورو دَ تاکو پښتې- دَ پالېزه پښتې- هغه زمکه چې دَ انګورو پهٔ باغ او يا دَ پالېزه دَ وجود پهٔ منځ کښې واقع وي- جمع پښتې-

پښتی:(پښ-تی)اسم- جمع- مذکر- چوبتې- چونټکه- دَ ښځو هغه ويښتهٔ چې دَ ځړی پهٔ شان وي-

پښتی:(پښ-تی)اسم- درياعت- امتحان- باز پرس-

پښتېدل:(پښ-تې-دل)لازمی/متعدی مصدر- پښتنه کول- تحقيق کول- سوال کول- پښتل- دَ څهٔ امر پهٔ باره کښې لهٔ چا تحقيق کول-

پښتېدلے:(پښ-تې-دهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پښتېدلی- مؤنث پښتېدلې- وګوری: پښتېدل-

پښتېدنه:(پښ-تې-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګوری: پښتېدل-

پښتېدهٔ:(پښ-تې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګوری: پښتېدل-

پښتی:(پښ-تی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)اړخ- (۲)پوړه-

پښتی:(پښ-تی)اسم- جمع- مؤنث- هغه هډوکی چې دَ سينې پنجره يې جوړه کړی ده-

پښتی:(پښ-تی)اسم- جمع- مؤنث- (۱)پښته- وقايه- کايه- کانټی- (۲)دَ ځمکه بالښت- تکيه- (افغانستان)-

پښکے:(پښ-کے)اسم صوت- دَ مار، پښی، هوا او يا دَ داسې نورو څيزونو اواز-

پښکيرت:(پښ-کی-رت)اسم- وګوری: پښتوب-

پښکيری:(پښ-کی-ری)اسم- وګوری: پښتوب-

پښلے:(پښهٔ-لی)اسم- جمع- مؤنث- دَ څرمنې موزه- ماسې- هغه جرابې چې دَ څرمنې پوښ ورلاچولے شوے وي- (افغانستان)-

پښلے:(پښ-لے)اسم- واحد- مذکر- پسولے- پېزوب- جمع پښلې-

پښم:(پښم)اسم- پامال شوے- دَ پښو لاندې چخنی کړے شوے- چخنار شوے- رسويلے شوے- سوريلے شوے- (افغانستان)-

پښمار:(پښ-مار)اسم- واحد- مذکر- دَمګر- ښنی وهونکے- دَ لومار ښنی ته باد ورکونکے-

پښنغ:(پښنغ)اسم- پامال- رسويلے- چخنی کړے- (افغانستان)-

پښنختوب:(پښنخ-توب)اسم- پائمالی- پښنختيا- پښنخوالے- چخنی توب- (افغانستان)-

پښنختيا:(پښنخ-تيا)اسم- وګوری: پښنختوب-

پښنخل:(پښن-خل)مصدر- رسويل- پائمالول- پامالول- دَ پښو لاندې چخنی کول- (افغانستان)-

پښنخلے:(پښن-خهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پښنخلی- مؤنث

www pukhto.net

پښنخلې- وګورئ پښنخل-

پښنخښ:(پښن-خښ)حاصلِ مصدر- وګورئ پښنخل-

پښنخنه:(پښن-خښ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ پښنخل-

پښنخوالے:(پښنخ-وا-لے)اسم- وګورئ پښنختوب-

پښنخونکے:(پښن-خ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پښنخونکی- مؤنث پښنخونکې- وګورئ پښنخول-

پښنخېدل:(پښن-خې-دَل)مصدرِ لازم- دَ زمکې سره اوارېدل- رسوېل- چخنې کېدل-

پښنخېدلے:(پښن-خې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پښنخېدلی- مؤنث پښنخېدلې- وګورئ پښنخېدل-

پښنخېدن:(پښن-خې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ پښنخېدل-

پښنخېدنه:(پښن-خې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ پښنخېدل-

پښنخېدونکے:(پښن-خې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پښنخېدونکی- مؤنث پښنخېدونکې- وګورئ پښنخېدل-

پښنخېدهٔ:(پښن-خې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ پښنخېدل-

پښند:(پښند)اسم صفت- (۱)پامال شوے- رسوېلے شوے- چخنې کړے شوے- (۲)دَ وړی یا مالوچو پنبت شوې ګنجی- پاغنده-

پښندل:(پښن-دَل)مصدرِ لازم- (۱)پامالول- پائمالول- وهل- (۲)وړی پهٔ لبنته اشتل- ارشتل-

پښندلے:(پښن-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پښندلی- مؤنث پښندلې- وګورئ پښندل-

پښندن:(پښن-دَن)حاصل مصدر- وګورئ پښندل-

پښندنګ:(پښن-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ پښندل-

پښندنه:(پښن-دَ-نه)حاصلِ مصدر- (۱)وګورئ پښندل- (۲)سخت وهل- رسوېل-

پښندول:(پښن-د-وَل)مصدرِ متعدی- پامالول-

پښندون:(پښن-د-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ پښندول-

پښندونکے:(پښن-د-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پښندونکی- مؤنث پښندونکې- وګورئ پښندول-

پښندونګ:(پښن-دَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پښندول-

پښندونه:(پښن-دَ-و-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ پښندول-

پښندے:(پښن-دے)اسم- واحد- مذکر- (۱)پښونډے- دَ پښو یو کالے- خولنه- (۲)وریک- هغه پړے چې دَ څناورو پښې پرې تړلے شی-

پښنګه:(پښن-ګه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دوه ښاښی- دوه غانښی- پیکور- هغه د لرګی دوه غانښی ستن چې دَ ونې دَ ښاخونو دَ پورته کولو دَ پاره ودرولے کیږی- (افغانستان)-

پښوکی:(پښو-کی)اسم- جمع- مؤنث- د پیتاوو پهٔ رنګ یو قسم جرابې چې پنجې نهٔ لری- غری-

پښول:(پښو-وَل)مصدرِ متعدی- (۱)دَ مار، غوا یا داسې بل څهٔ څناور نه دَ پش پش اواز ایستل- پرشول- (۲)دَ لومار دَ بنی نه باد ایستل-

پښولے:(پښو-وَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پښولی- مؤنث پښولې- وګورئ پښول-

پښون:(پښو-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ پښول-

پښونډے:(پښ-ون-ډے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پښندے- جمع پښونډی-

پښونکے:(پښو-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پښونکی- مؤنث پښونکې- وګورئ پښول-

پښونګ:(پښو-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پښول-

پښونه:(پښو-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ پښول-

پښویه:(پهٔ-ښو-یه)متعلق فعل- (۱)دَ "پهٔ" او "ښویه" مرکب- دَ "پهٔ ایخې" ضد- (۲)دَ قرآن کریم روانه لستنه- (۳)ګرامر- صر و نحو- (افغانستان)-

پښه:(پښه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پښه- دَ بدن هغه حصه چې ګرځېدل پرې کیږی- (۲)دَ هر څیز دَ تکیې یا اوې لګولو حصه لکه دَ مېز پښه- (۳)دَ قبیلې یا خاندان یوه څانګه یا حصه- جمع پښې-

پښه:(پهٔ-ښه)اسم- واحد- مؤنث- لمنګره- اینګره- د پش مؤنث- جمع پښې-

پښه لرتون:(پښه-لر-تون)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پښه ارته-

پښه ارته:(پښه-ار-ته)اسم- واحد- مؤنث- پښې ارته- پښه ارتون- پښه ارتی- دَ پښتنو هغه دستور چې پکښې دَ چنغلې دَ کور لهٔ خوا دَ چنغول کور ته تحفه ځی-

پښه ارتی:(پښه-ار-تی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پښه ارته-

پښه بند:(پښه-بند)اسم- واحد- مذکر- دَ پښو یو کالے چې غمی لری او پهٔ پښو کولے شی- عامیانه قرأت دَ پاره وګورئ خپه بند-

پښه سورے:(پښه-سو-رے)اسم- واحد- مذکر- دَ پښتنو هغه دستور چې دَ وادهٔ دَ ځلمی پهٔ دروازه کښې دَ ناوې دَ تنوتو نه اګاهو چرګ حلالولے شی- جمع پښه سوری- (افغانستان)-

پښه نیولے:(پښه-نی-و-لے)اسم صفت- واحد- مذکر- ماتل- ایسار- ساوے- پهٔ تلو تلو کښې رفتار کمونکے- (مرکب لفظ) (کېدل مصدر)-

پښه وندے:(پښه-ون-دے)اسم- واحد- مذکر- پښونډے- پلوابه- هغه پړے چې څاروی پرې لهٔ پښو تړلے شی- جمع پښه وندی-

پښه ییل:(پښه-یی-یل)اسم صفت- پښې ییلې- پښې لوڅے- ییلې پښې- بې پیزاره- پښې لبله- پهٔ پښو پیزار نهٔ لرونکے-

پښهار:(پښن-هار)اسم صوت- (۱)دَ مار یا باد دَ پش پش اواز- (۲)دَ خفه مړی نه وتے اواز-

پښهارے:(پهٔ-ښه-هارے)اسم صوت- وګورئ پښهار-

پښین:(پښین)اسم- واحد- مذکر- وختی نماسپښین-

پښې لبله:(پښې-اب-له)اسم صفت- وګورئ پښه ییل-

پښې لوږ:(پښې-لوږ)اسم صفت- وګورئ پښې ییل-

ی- (عی-زَل)، ې-(هې-وه-ول)، ۍ-(پیاسلی)، ے-(تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

پښېدل:(پ-ښې-دَل)مصدرِ لازم- (۱)دَ مار پښ پښ کول- (۲)مخې ته راتلل- دَ څۀ کار پښېدل-

پښېدلے:(پ-ښې-دۀ-لے)اسمِ مفعول- واحد- مذکر- جمع پښېدلي- مؤنث پښېدلې- وګورئ پښېدل-

پښېدن:(پ-ښې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ پښېدل-

پښېدنګ:(پ-ښې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ پښېدل-

پښېدنه:(پ-ښې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ پښېدل-

پښېدونکے:(پ-ښې-دُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع پښېدونکي- مؤنث پښېدونکې- وګورئ پښېدل-

پښېدۀ:(پ-ښې-دۀ)حاصلِ مصدر- وګورئ پښېدل-

پښېمان:(پښې-مان)اسمِ صفت- واحد- مذکر- (۱)پۀ شوی کار افسوس کونکے- (۲)پۀ یو نۀ شوی کار دَ کولو ارمان لرونکے- پښېمانه- شرمنده- ملامته- افسوس او پښېمانی کونکے- لېچھور-

پښېمان توب:(پښې-مان-توب)اسم- پښېمانتیا- ندامت- لېچھورتوب- لېچھوری-

پښېمانتیا:(پښې-مان-تیا)اسم- وګورئ پښېمان توب-

پښېمانول:(پښې-ما-نَ-وَل)مصدر- لۀ "پښېمان" مصدرِ متعدی- (۱)نادم کول- لېچھورول- (۲)دَ کړی لوظ نه اړول-

پښېمانونکے:(پښې-ما-نَ-وون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع پښېمانونکي- مؤنث پښېمانونکې- وګورئ پښېمانول-

پښېمانونه:(پښې-ما-نَ-وَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ پښېمانول-

پښېمانه:(پښې-ما-نه)اسمِ صفت- وګورئ پښېمان-

پښېمانی:(پښې-ما-نی)اسم- وګورئ پښېمانتوب-

پښېمانېدل:(پښې-ما-نې-دَل)مصدر- دَ "پښېمان" مصدرِ لازم- (۱)نادم کېدل- لېچھورېدل- (۲)دَ خپلې وعدې نه اوړېدل-

پښېمانېدن:(پښې-ما-نې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ پښېمانېدل-

پښېمانېدنګ:(پښې-ما-نې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ پښېمانېدل-

پښېمانېدنه:(پښې-ما-نې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ پښېمانېدل-

پښېمانېدونکے:(پښې-ما-نې-دُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع پښېمانېدونکي- مؤنث پښېمانېدونکې- وګورئ پښېمانېدل-

پښېمانېدۀ:(پښې-ما-نې-دۀ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ پښېمانېدل-

پښی:(پ-ښی)اسم- واحد- مؤنث- څوکری- تریو خوند لرونکے یو قسم ساګ چې فارسی کښې ورته رواش وائي-

پښے:(پ-ښے)اسم- واحد- مذکر- دَ ټوپک دَ نالی دَ صفا کولو مزے- پترو- پلترو- مرورے- مروړی- کته کش- جمع پښي-

پعذابول:(پا-ذا-بَ-وَل)مصدرِ متعدی- کړول- ځورول- تکليف ورکول-

پعذابون:(پا-ذا-بَ-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ پعذابول-

پعذابونکے:(پا-ذا-بَ-وون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع پعذابونکي- مؤنث پعذابونکې- وګورئ پعذابول-

پعذابونګ:(پا-ذا-بَ-وَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ پعذابول-

پعذابونه:(پا-ذا-بَ-وَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ پعذابول-

پعذابېدل:(پا-ذا-بې-دَل)مصدرِ لازم- کړېدل- ځورېدل- تکليف رسېدل-

پعذابېدن:(پا-ذا-بې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ پعذابېدل-

پعذابېدنګ:(پا-ذا-بې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ پعذابېدل-

پعذابېدنه:(پا-ذا-بې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ پعذابېدل-

پعذابېدونکے:(پا-ذا-بې-دُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع پعذابېدونکي- مؤنث پعذابېدونکې- وګورئ پعذابېدل-

پعذابېدۀ:(پا-ذا-بې-دۀ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ پعذابېدل-

پغنه:(پغ-نه)اسم- واحد- مؤنث- پۀ کُدالی، چوټک یا یوم باندې دَ زمکې دَ نرمولو کار- (افغانستان)-

پف:(پُف)اسمِ صوت- دَ پوکی اواز- دَ دم کولو دَ پاره دَ پوکی اواز-

پف:(پَف)کلمه- ورک شه- دَ افسوس کلمه- کله کله دَ څۀ څیز دَ زیاتوالی پۀ وخت هم وئیلے شی- خصوصاً دَ ګرمی دَ زیاتوالی پۀ وخت کښې-

پقیر:(پ-قیر)اسمِ صفت- واحد- مذکر- پکیر- فقیر- سوال ګرے- خیر غوښتونکے- سائل- (۲)غریب- خوار- محتاج- (۲)مسے- دَ بل پۀ کالۀ کښې دَ خدمت پۀ عوض رسېدونکے-

پقیرتوب:(پ-قیر-توب)اسم- دَ پقیر کېدو حالت-

پقیرنامه:(پ-قیر-نا-مه)اسم- (۱)دَ بل چا پۀ مینه کښې دَ خدمت پۀ عوض دَ وسېدونکیو کورونه- (۲)دَ داسې وسېدونکیو دَ پېژندګلو دَ پاره وضع شوے یو ټکے-

پقیری:(پ-قی-ری)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پقیرتوب-

پک:(پک)اسم- واحد- مذکر- قسمت- اتفاق- تقدیر-

پک:(پک)اسمِ صفت- (۱)پمن- پخن- پون- (۲)ګنجے- ځموکے- مؤنث پکه- جمع مؤنث پکې-

پک:(پک)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ کشتی چپو- سنګاوړ- (۲)پوک- (۲)موقع- هغه اوږۀ شوے څیز چې لۀ تلی پۀ خلۀ کښې اچولے شی- جمع پکونه-

پک:(پک)اسم- واحد- مذکر- بوک- دَ بېړی یا سپېښتې یو طرف چې مخالف طرف ته یې چوک والی- (۲)وار- پېره- نوبت- (افغانستان)- مؤنث پکه- جمع مؤنث پکې-

پک:(پک)اسمِ صفت- وګورئ پکړ ۱-

پکار:(پ-کار)اسمِ صفت- (۱)پۀ بنه راتلونکے- (۲)پۀ ضرورت راتلونکے- (۲)پسندیده- غوره- باندۀ- (۴)فائده من- ګټه ور-

پکار:(پ-کار)اسم- واحد- مذکر- پوکے ورکونه- پوکنه-

پکارول:(پ-کا-رَ-وَل)مصدرِ متعدی- پۀ کار راوړل- پۀ کار راوستل-

زور "(ح بۀ-ره)، رووکے "(شل)، پېش (نو-کا-ره)، زېر "(کِ-تاب)، جزم "(شکون)، "ۀ"(زِ-وۀ)، "ۀ"(پو-ښې-دۀ)

www.pukhto.net

استعمالول- خرڅ کول-

پکارولے:(پِ-کا-رَ-وَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پکارولي- مؤنث پکارولې- وګورئ پکارول-

پکارون:(پِ-کا-رَ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ پکارول-

پکارونکے:(پِ-کا-رَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پکارونکي- مؤنث پکارونکې- وګورئ پکارول-

پکارونګ:(پِ-کا-رَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پکارول-

پکارونه:(پِ-کا-رَ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پکارول-

پکارېدل:(پِ-کا-رې-دَل)مصدر لازم- پکار کېدل- پکار راتلل-

پکارېدن:(پِ-کا-رې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ پکارېدل-

پکارېدنګ:(پِ-کا-رې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ پکارېدل-

پکارېدنه:(پِ-کا-رې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پکارېدل-

پکارېدونکے:(پِ-کا-رې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پکارېدونکي- مؤنث پکارېدونکې- وګورئ پکارېدل-

پکارېدهٔ:(پِ-کا-رې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ پکارېدل-

پکټ:(پِ-کَټ)اسم- واحد- مذکر- پیکټ- سنګر- دَ فوځ، بارډر یا ملیشي څوکی- محفوظه مورچه- جمع پکټونه- (م- انګریزی)-

پکټنګ:(پِک-ټِنګ)اسم- واحد- مذکر- احتجاجي اجتماع یا انفرادی احتجاجي عمل- (یوه سیاسی اصطلاح)- (م- انګریزی)-

پکچر:(پِک-چَر)اسم- واحد- مذکر- (۱)تصویر- (۲)سنیم- بائسکوپ- ننداره- فلم- (م- انګریزی)-

پکر:(پِکَر)اسم- مذکر- فقر- غریبی- سوال- چر- دروېزه- ګدائی- خواری- مفلسی-

پکر:(پِ-کَر)اسم- واحد- مذکر- پیکر- فکر- سوچ- پام- غور- ری- ځرت- جاج- چورت- خیال- توجه-

پکر:(پِهٔ-کَر)اسم- واحد- مذکر- مقابله- وغره- پکره- (افغانستان)-

پکرول:(پِهٔ-کَر-وَل)مصدر متعدی- (۱)اکرول- نوکاري لګول- ګروشپېل- (۲)قهرول- پارول- کتول- راغرول-

پکرولے:(پِهٔ-کَر-وَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پکرولي- مؤنث پکرولې- وګورئ پکرول-

پکرون:(پِهٔ-کَر-وَن)حاصل مصدر- وګورئ پکرول-

پکرونکے:(پِهٔ-کَر-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پکرونکي- مؤنث پکرونکې- وګورئ پکرول-

پکرونګ:(پِهٔ-کَر-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ پکرول-

پکرونه:(پِهٔ-کَر-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پکرول-

پکرېدل:(پِهٔ-کَر-ې-دَل)مصدر لازم- (۱)اکرېدل- ګروشپېدل- (۲)پارېدل- قهرېدل-

پکرېدلے:(پِهٔ-کَر-ې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پکرېدلي- مؤنث پکرېدلې- وګورئ پکرېدل-

پکرېدن:(پِهٔ-کَر-ې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ پکرېدل-

پکرېدنګ:(پِهٔ-کَر-ې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ پکرېدل-

پکرېدنه:(پِهٔ-کَر-ې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پکرېدل-

پکرېدونکے:(پِهٔ-کَر-ې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پکرېدونکي- مؤنث پکرېدونکې- وګورئ پکرېدل-

پکرېدهٔ:(پِهٔ-کَر-ې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ پکرېدل-

پکړ:(پِ-کړ)اسم صفت- خوار- غریب- مسکین- په جېب کښې پېسه نهٔ لرونکے-

پکړ:(پِ-کړ)اسم- واحد- مذکر- دَ لمښې لرګے- دَ ارچې لرګے- دَ نباتاتی نوم دَ پاره وګورئ ارچه- جمع پکړان- (افغانستان)-

پکښې:(پِهٔ-کښې)حرفِ جار- دننه- په مېنځ کښې- کښې- (۲- صفت)کُنی- کُنه ورکونکے-

پکل:(پِ-کَل)اسم- واحد- مذکر- چڼ- پوزے- کېږ- پرده- انډېرے- (افغانستان)-

پکل:(پِ-کَل)مصدر- کېه اچول- تلے اچول- لپه اچول- پېتل- ورغوے اچول- تلے وهل- دا توول مصدرونه د مېده څیزونو دَ پاره استعمالیږی لکه ستوان پکل- دارو پکل وغیره)-

پکلے:(پِ-کَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پکلي- مؤنث پکلې- وګورئ پکل-

پکنک:(پِک-نِک)اسم- واحد- مذکر- بلنهاره- بنهاره- سوبت- دَ سېل سپاټې دَ پاره د یارانو دوستانو سره ته تلنه او ملته اخلے پخلے کونه- PICNIC- میله- (م- انګریزی)-

پکنه:(پِ-کَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پکل-

پکو:(پِ-کو)اسم صفت- زهیر- سرګردان- پرېشان- خفه- سرګردن- په بد حال- مضطرب-

پکوړ:(پِ-کوړ)اسم- واحد- مذکر- پکول- دَ یو خاص قسم ګرمه وړینه ټوپی- لهٔ پټی نه جوړه ټوپی- جمع پکوړونه-

پکوړه:(پِ-کو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- پیکوړه- د وېسنو، پیازو او مرچکې وغېره نه جوړ یو ترسکون غټ شان یا بل شکل لرونکے څیز چې پهٔ تېلو یا غوړو کښې تلولے شی- جمع پکوړی-

پکول:(پِ-کول)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پکوړ(۱)- جمع پکولونه-

پکونکے:(پِ-کون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پکونکي- مؤنث پکونکې- وګورئ پکل-

پکوېی:(پِ-کو-ېی)اسم- مؤنث- د طلاقېدو نه پس نه دوباره وادهٔ شوې ښځه- (افغانستان)-

پکوالے:(پِ-کو-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- پرېشانی- بدحالی- سرګردانی-

www.pukhto.net

تنګېدنه- په عذابېدنه- اوترتوب- وګورئ پکو-

پکه:(پ-که)اسم- واحد- مؤنث- کپه- کپه- پوښې- پوړې- تلے- رش- پکې- پکے- مېده کړے ګیز- هغه مېده کړې دارو چې د ګېډې د درد د پاره پکارولے شي-

پکه:(پهٔ-که)اسم- واحد- مؤنث- پوک- پک- کامبورے- د جوارو مېده پروړه- پخه- پهه- (افغانستان)-

پکه:(پَ-که)اسم صفت- واحد- مؤنث- دَ "پک" مؤنث- پمنه- پونه- کنجې- جمع پکې-

پکه باښه:(پ-که-با-ښه)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم باښه- کوکه باښه- (افغانستان)-

پکه پاپکي:(پَ-که-پا-پهٔ-کي)اسم- واحد- مؤنث- یو مشهور وابنهٔ چې بېخ يې دَ کچالو پهٔ شان وی او خوږ وی- (افغانستان)-

پکه تیوه:(پَ-که-تي-وه)اسم- واحد- مؤنث- پله تیوه- دوړېدونکې تیوه- رژېدونکې تیوه- جمع پکې تیوې- (افغانستان)-

پکیر:(پَ-کیرْ)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ پقیر- (عامیانه)- جمع پکیران- (م- فقیر فارسی)-

پکیرتوب:(پَ-کیرْ-توبْ)اسم- وګورئ پقیرتوب- (عامیانه)-

پکیری:(پَ-کی-ري)اسم- وګورئ پقیري- (عامیانه)-

پکېدل:(پَ-کي-دَل)مصدرِ لازم- پوک کېدل- پک کېدل- کنجے کېدل- روټن کېدل-

پکېدن:(پَ-کي-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ پکېدل-

پکېدنګ:(پَ-کي-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ پکېدل-

پکېدنه:(پَ-کي-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ پکېدل-

پکېدونکے:(پَ-کي-دُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع پکېدونکي- مؤنث پکېدونکې- وګورئ پکېدل-

پکېدهٔ:(پَ-کي-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ پکېدل-

پکی:(پَ-کي)اسم- واحد- مؤنث- اړی- دَ یو جریب پهٔ اندازه دَ کر جوګه زمکه چې پهٔ منځ کښې يې پولې یا بریدونه نهٔ وی-

پکی:(پَ-کي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ پکه (پکل)-

پکے:(پَ-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پکه (پکل)-

پکے:(پ-کے)اسم تصغیر- دَ پک اسم تصغیر- پوک- پوک- پوکه- کنجے- پمن-

پکے:(پ-کے)اسم- واحد- مذکر- باد پکے- بېبوزے- بوزے- جمع پکي- (م- هندی)-

پګ:(پګ)اسم- واحد- مذکر- غټه پګړی- لویٔ پټکے- جمع پګونه-

پګ:(پګ)اسم- واحد- مذکر- پکه- منجیله- دَ منګی یا پنډ وړلو دَ پاره منجیلګی- جمع پګې-

پګاړه:(پَ-ګا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- اشر- بسکره- پګړه- دَ تفصیلی معنې دَ پاره وګورئ اشر-

پګاه:(پ-ګاه)اسم- سحر- سبا- سحر وختی- سحر سبا- (م- فارسی)-

پګړه:(پَ-ګَ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پګاړه-

پګړی:(پګ-ړی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)غټ پټکے- دستار- پګ- پکه- لنګوټه- (۲)غیرت- همت- (۳)عزت-

پګڼ:(پَ-ګڼ)اسم- واحد- مذکر- دَ هندی کال یوولسمه میاشت- دَ فروری، مارچ میاشت- (م- هندی پهاګن)-

پګ ونډ:(پګ-ونډْ)اسم- واحد- مذکر- دَ زمکې هر هغه وېش چې دَ نارینو پهٔ بنیاد کېږی- جمع پګ ونډونه-

پګه:(پ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پګړی-

پل:(پل)اسم صفت- بخښلے شوے- معاف-

پل:(پل)اسم- واحد- مذکر- (۱)قدم- ګام- (۲)دَ پښې نښه- منږه- (۳)دَ ژرندې یا مېچنې غټه برنے کاڼے- پوړ- (۴)دَ کلال څرخ- جمع پلونه-

پل:(پل)اسم- واحد- مذکر- لحظه- دَ سترګو رپ- یوه ګړی- کم وخت- لږه شیبه- (م- هندی)-

پل:(پل)اسم صفت- جدا شوے- مستثنیٰ شوے- بېل شوے- مؤنث پله-

پل:(پل)مهمل- دَ "خل" تابع مهمل-

پل:(پل)اسم- واحد- مذکر- پال- فال- قسمت- (عامیانه)- جمع پلونه-

پل:(پَل)اسم- واحد- مذکر- څټوکے-

پل:(پُل)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پول- پهٔ سیند یا نهر وغیره دَ پاسه جوړه شوې لار-

پلا:(پَ-لا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وار- ځل- وخت- موده- نوبت- دفعه- (۲)دوره- تګ- وخت- ګشت- سفر- (افغانستان)-

پلا:(پَ-لا)اسم صوت- غوایانو ته دَ یوې کولو پهٔ وخت دَ پولې نه دَ بېخ کېدو یا تېز کار کولو اواز-

پلاټ:(پلاټْ)اسم- واحد- مذکر- (۱)سازش- (۲)پهٔ لنډه قصه کښې دَ واقعاتو زنځیر او دَ هغو خپلو کښې دَ تړلو اصول-(۳)دَ زمکې یوه مخصوصه جوړه کړے شوې ټوکره- جمع پلاټونه- (م- انګریزی)-

پلاټون:(پ-لا-ټُون)اسم- واحد- مذکر- پلټون- دَ ګلوبښتو پنځوسو کسانو فوځی دسته- (م- انګریزی)-

پلاټینم:(پلا-ټی-نم)اسم- واحد- مذکر- یو قیمتی دات چې اټمی شمېر يې ۷۸ او علامت يې Pt دے- (م- هسپانوی)-

پلاچه:(پَ-لا-چه)اسم- واحد- مؤنث- دَ ځاروی د خټ غوښه- جمع پلاچې-

پلار:(پلار)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ابا- جمع پلاران- (عام طور سره تحقیراً)- جمع پلرونه-

پلارتوب:(پلارْ-توبْ)اسم- پلارکېدنه- پلارولی- پلارګلوی- پلاروالے-

پلارحمل (پلار-حمل)اسم- پلارګنی- دَ پلار لهٔ لوری خپلوان- پلرګنی- (افغانستان)-

زبر "(ح-یڅ-وه)، زورکے "(شل)، پېښ "(نو-کا-ره)، زیر "(ک-تاب)، جزم "(شکون)، ة "(و-ږه)، ۀ "(پو-ښي-دهٔ)

www.pukhto.net

پلارګلوی:(پلار-ګل-وی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پلارتوب-

پلارګنی:(پلار-ګـ-نی)اسم- مؤنث- پلارخېل- پلرنی- دَ پلار لهٔ خوا خپلوان- دَ نياوې دَ پلار کول- پلرګنی- دَ پلار خپلخانه-

پلارمړے:(پلار-مړ-ړے)اسم صفت- واحد- مذکر- يتيم- بې پلاره- مؤنث پلارمړې-

پلاروالی:(پلار-وا-لی)اسم- وګورئ پلارتوب-

پلاروالے:(پلار-وا-لے)اسم- وګورئ پلارتوب-

پلارولی:(پلار-و-لی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پلارتوب-

پلارينه:(پلا-رى-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پلارګنی-

پلاز:(پلاز)اسم- (۱)تخت- دَ بادشاهانو دَ ناستې خاص ځاے- (۲)دَ ناوې او زلمي دَ پاره دَ وادهٔ پهٔ ورځ خاص جوړ شوے ځاے-

پلاس:(پ-لاس)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پلاس پلے-

پلاس:(پ-لاس)اسم- واحد- مذکر- بوجى- ټاټ- غټ او شپل ټوکے- (م- فارسى)-

پلاس:(پ-لاس)اسم- واحد- مذکر- يو خاص قسم امبور-

پلاس پلے:(پ-لاس-پ-لے)اسم- واحد- مذکر- دَ ګېډى دَ چينجو دَ علاج دَ پاره پکارېدونکے يو بوټے چې غنو شان تخم لرى- (افغانستان)-

پلاسپر:(پ-لاس-پر)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)چالاک- ځان هوښيار ګڼونکے- (۲)پهٔ سوچونو کښې ډوب- (عاميانه)-

پلاستر:(پ-لاس-تر)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پلستر- (م- انګريزى)-

پلاسټک:(پ-لاس-ټک)اسم- واحد- مذکر- مختلف شکلونه قبلونکے يو شے چې اوس اکثر مصنوعى وى او دَ کور لوښى لرګى او نور سامان ترې جوړيږى- (م- انګريزى، يونانى)-

پلاسټکى:(پ-لاس-ټ-کى)اسم- دَ پلاسټک نه جوړ-

پلاسيخ:(پ-لا-سيخ)اسم صفت- نيغ- روغ-

پلاش:(پ-لاش)اسم- واحد- مذکر- فلاش- فلش- دَ تشناب يوه لوښه چې جوارى پرې کولے شى- (م- انګريزى)-

پلاشټک:(پ-لاش-ټک)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پلاسټک-

پلاشى:(پ-لا-شى)اسم صفت- واحد- مذکر- پلاش کونکے- جمع پلاشيان-

پلال:(پ-لال)اسم- واحد- مذکر- (۱)غوښتنه- طلب- تلاش- تجسس- (۲)ساتنه- حفاظت-

پوپو:(پو-پو)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د پلار خوږ- ترور- اکو- مشرۍ ښځې نه د عزت پۀ طور تورې- (۲)د ماشومانو ژبه کښې ټوپۍ ته وئیلے کېدونکے لفظ-

پوپی:(پو-پی)اسم- واحد جمع- مذکر- پمنګی- پمنی-

پوپیس:(پو-پیش)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د ماشومانو جینکو یوه لوبه چې پۀ دوه ټنه کیږي- لاسونه ی یو بل له کلک ورکړي وي او چورلي- (۲)خبرې له کرنګ ورکونه- پوپیشري-

پوپیشري:(پو-پیش-ري)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پوپیش-

پوپے:(پو-پے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ښاپېرک- نملښام ګکلکے- تینتارے- اسمان ګکالے- ښاپېرکړکے- (۲)یو قسم مشهور وابنۀ- ټاټکه- (۳)دَ بانګړ یا بزې سپین رنګ لرونکے ګل چې رس يې خوږ وي او چوولے شي-

پوټ:(پوټ)اسم- واحد- مذکر- یوه میوه او د هغې ونه- جمع پوټونه-

پوټ:(پوټ)اسم- واحد- مذکر- بچے- څوئ- زمکے- زمنکے- (م- هندی)-

پوټ:(پوټ)اسم- واحد- مذکر- کوڅے- لمڅے- نیڅے- د لمڅې یا نمدی د کاغذ پۀ شان نرے پوټکے-

پوتا:(پو-تا)اسم- واحد- مذکر- غیر معمولي اوږد او غټ غین- دَ خر عین- جمع پوتاګان- (م- شاند توطه- عربی)-

پوتاس:(پو-تاس)اسم- پتاس- پتاس- پوتاش- پوتاش- (افغانستان)-

زبر"(ح-یفـ-ره)، زوروکے"(شل)، پېښ"(قو-کا-ره)، زور"(ک-تاب)، جزم"(شکون)، ه"(ر-وه)، ۀ"(پو-بي-دۀ)

www pukhto net

پوتاش:(پو-تاش)اسم- واحد- مذکر- پتاس-

پوتړه:(پوت-ړه)اسم- واحد- مؤنث- د ماشومانو د وړو او لویو بولو صفا کولو چیړړه- مونحه-

پوتکې:(پوت-کې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- غاړې- بندې- غوړه- د ښځو د غاړې یو پسول-

پوتکے:(پوت-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)شاید د پوت اسم تصغیر- (۲)د سپک قد و قامت سړے- پتکے- جمع پوتکي-

پوتکے:(پوت-کے)اسم- واحد- مذکر- وړوکے څاڅکے- د مائع څیز یوه وړه قطره- جمع پوتکي-

پوتل:(پو-تل)اسم- واحد- مذکر- توپالہ- پوسه- کیچه- تفاله- پرخوړه- د څهٔ میوې یا بل خوراکي څیز د خوړلو نه پس پهٔ خلهٔ کښې پاتې کېدونکے پوک-

پوتلی:(پوت-لی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- ناڅکه- نیڅکه- مونه- کوډې- کوډچکه- لانڅکه- کوډاکي- میرغوړه- کوډې چې د تار پهٔ ذریعه کېدیږي- (م- هندی- پتلی)-

پوته:(پو-ته)اسم- واحد- مؤنث- د غوا د غرمې مینځنۍ حصه-

پوته:(پو-ته)اسم- واحد- مؤنث- پوزه- لاپه- باګه- بابړه- لویه وینا-

پوتی:(پو-تی)اسم- واحد- مؤنث- هغه پړونے چې ښځې ئې پلو پهٔ اوږو اړوي-

پوتی:(پو-تی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- د حساب کتاب د یاداشت کاپي یا کتاب- د یاداشت کتابچه چې عام طور سره بې جلده وي- (م- هندی پوتهی)-

پوتے:(پو-تے)اسم- رحت خایٔ- پشته- بلندي- د کانړو ډېرې-

پوتے:(پو-تے)اسم- واحد- مذکر- مخ- صورت- شکل- (عام طور سره خرابو معنو کښې استعمالیږي)- (م- هندی)-

پوټ:(پوټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)پوستکے- پټ- پوټکے- پټخے- (۲)پوست- څرمن- ژون- ژعون- وژن-

پوټ:(پوټ)اسم- د تاش لوبه-

پوټ:(پوټ)اسم- واحد- مذکر- د څناور د وچې غټ هډ او لهٔ هغهٔ سره لګېدلې غوښه-

پوټ:(پوټ)اسم- واحد- مذکر- جګړه- ستیزه- (م- هندی)-

پوټ:(پوټ)اسم- مذکر- (۱)مصیبت- غم- تکلیف- زحمت- (۲)غنیمه- تولنه- محلس-

پوټا:(پو-ټا)اسم- واحد- مذکر- الاچی- لاچي-

پوټاس:(پو-ټاس)اسم- واحد- مذکر- پوټاش- یوه اور اخستونکې ماده- ساروړ-

پوټخ:(پو-ټخ)اسم- واحد- مذکر- پوټخے- پوټکے- پوټ- پوستکے- پټ- څوړک- ګوډے-

پوټخے:(پو-ټ-خے)اسم- واحد- مذکر- پوټخ- پوټکے- پوستکے- پټ- پوټ- (۲)ګوډے- (۳)څرمن- جمع پوټخي-

پوټسکے:(پو-ټس-کے)اسم تصغیر- د پوټې اسم تصغیر- وړوکے- لږ-

پوټ سورے:(پوټ-سو-رے)اسم- پوټ سورے- پوټ- پوستکے- د غنمو، وریژو یا اربشو پوستکے- جمع پوټ سوري-

پوټک:(پو-ټک)اسم- واحد- مذکر- پهٔ سخته زمکه کښې راټوکېدونکے هغه وابنهٔ چې غټه شان بوټے ئې وي- (افغانستان)-

پوټکل:(پوټ-کل)اسم- د جوارې وړوکے داڼ-

پوټکے:(پو-ټ-کے)اسم- واحد- مذکر- پوټخے- پوستکے- پټ- پوټ- بوستین- څرمن- ژون- ګوډے- جمع پوټکي-

پوټکے:(پو-ټ-کے)اسم- واحد- مذکر- د خاورو وچت خایٔ یا ډېره- د خاورو وړه غونډۍ- پوټے- د شګو ډېرے- د خاورو وړوکې ټوټې-

پوټلی:(پوټ-لی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)وړه کڅوړه- وړه کڅوړه- وړوکے پند- (۲)هغه وړوکې د کپړې جوړه غوټه چې د ځلوښتې ماشومانو ته یکښې خواږهٔ ورکوي- (م- هندی)-

پوټونے:(پو-ټو-نے)اسم- واحد- مذکر- پهٔ څو کښې د ناستې ځایٔ- مورچه- څارن ځایٔ- پټونے- پهٔ مورچه کښې کښېناستنه- پټکینے- جمع پوټوني-

پوټی پوټی:(پو-ټی-پو-ټی)اسم صفت- ټوټې ټوټې- عام طور سره د ورانو پیو د پاره استعمالیږي-

پوټین:(پو-ټین)اسم- مذکر- وړهٔ بوټان- (افغانستان)-

پوټین:(پو-ټین)اسم- جمع- مذکر- (۱)یو قسم نرې حلوه- حریره- (۲)هغه نرې لېټې چې د شیشو او لرګیو پهٔ پیوندونو کښې بکاریږي-

پوټینے:(پو-ټي-نے)اسم صفت- وړوکے- پوټے- جمع پوټیني-

پوټے:(پو-ټے)اسم- واحد- مذکر- (۱)پوټسکے- بیګانے- تیکه- ټکره- د غوښې پوټے- (۲- صفت)لږ شان- لږ کوټې- ذره شان- جمع پوټي-

پوټے:(پو-ټے)اسم- واحد- مذکر- (۱)پوټکے- د شګو ډېرے- وچت ځایٔ- (۲)د پومېې دومره مقدار چې پهٔ منګل کښې راشي-

پوټے:(پو-ټے)اسم- واحد- مذکر- وړوکے صندوق- صندوقکے- صندوقچه- دړسوندخ- سیندکچه (افغانستان)- جمع پوټي-

پوټے پوټے:(پو-ټے-پو-ټے)اسم صفت- ریزه ریزه- بسمې بسمې- ټوټې ټوټې- ټانې وانې- پوټي پوټي-

پوجا:(پو-جا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پوجاپاټ-

پوجاپاټ:(پو-جا-پاټ)اسم- (۱)پرستش او (د مذهبی کتاب) لستنه- (اصل معنی) عبادت- (۲)خوشامد- (م- هندی)-

پوجی:(پو-جی)اسم- ګوړ- د پټی ګوړ- للون- خشاوه- (۲)د ونې ښاخ تراشی-

پوځ:(پوځ)اسم- واحد- مذکر- فوځ- لښکر- عسکر- جمع پوځونه- (م- عربی

"ی" (ښی-رل)، "ي" (مي-ره-ول)، "ی" (بيا-لي)، "ے" (تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

فوځ)۔

پوځی:(پو-ځی)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ فوځ سره تعلق لرونکے- فوجی- عسکری- (۲)خړرنګ-

پوچ:(پوچ)اسم صفت- مذکر- (۱)سپک خلے- بَد خلے- بې ادبه- بې عزته- سپک- (۲)بې فائدې- فضول- عبث- چټی- (۳)لۀ چکی تش- بې مطلبه- (۴)کوتې لوبه- ګُته- دَ یوې لوبې نامه چې پۀ موټی کښې پټ څیز پکښې معلومولے شی- (۵)غل کارتوس-

پوچ:(پوچ)اسم صفت- وروست لرګے چې مینځ ئې خوړلے شوے وی- تیوس-

پوچ پروواه:(پوچ-پر-واه)حرف تاکید- لۀ "پروا" نه مخکښې تاکیداً استعمالېدونکے توری- پوچ ګو-

پوچ خُلتوب:(پوچ-خُل-توب)اسم- پوچ خُلتیا- بد زبانی- فضول غږېدنه- پوچ ګوئی- بې واکی- پوچ خلی-

پوچ خُلتیا:(پوچ-خُل-تیا)اسم- وګورئ پوچ حلتوب-

پوچ خُلی:(پوچ-خُلی)اسم- وګورئ پوچ خلتوب-

پوچ خلے:(پوچ-خُلے)اسم صفت- پوچ ګو- پوچ ګویه- کنځل مار- عبث او فضول غږېدونکے- بې واکه- مؤنث پوچ خُلې-

پوچځلے:(پوچ-ځ-لے)اسم- واحد- مذکر- دَ کهو یوه بیماری- (افغانستان)-

پوچک:(پو-چک)اسم- واحد- مذکر- دمړی- کنجکه- لږ څیز- پکړه-

پوچک:(پو-چک)اسم- واحد- مذکر- دَ سوال روټی- دَ روټی ټوکړه- کنډک- ګپه- ګپک- جمع پوچکونه-

پوچک:(پو-چک)اسم صفت- مذکر- (۱)کم عقل- بې عقل- بې مغزه- (۲)خالی کارتوس- دَ کارتوس خالی کوکه-

پوچک:(پو-چک)اسم- واحد- مذکر- ستامبول- ستمبول- پرېښو- رېبړ- کارکونړے- دَ خټکو پۀ شان یوه مېوه- وړوکے خټکے چې دَ خوشبوئی دَپاره لاس کښې نیولے شی-

پوچ کولمه:(پوچ-کول-مه)اسم- واحد- مؤنث- پېچ کولمه- دَ پچو کولمه- دَ ګاړوو یوه غټه کولمه چې پچې ترې راوباسی- (افغانستان)-

پوچکه:(پو-چ-که)اسم- واحد- مؤنث- پوچی- مره غُونې- وړه هندوانه- وړه هندوانه- هغه هندوانه چې د سپرغې نه راوتې وی او دَ منې قدرې غټه وی- جمع پوچکې-

پوچ ګو:(پوچ-ګو)اسم صفت- پوچ ګوئے- پوچ ګویه- پوچ خُلے- سپکې او عبثې خبرې ویونکے- کنځل مار- (م- فارسی)-

پوچ ګوئی:(پوچ-ګو-ئی)اسم- کنځل- سپکه وېنا- عبث خبرې-

پوچ ګویه:(پوچ-ګو-یه)اسم- وګورئ پوچ ګو-

پوچ ګوئے:(پوچ-ګو-ئے)اسم صفت- وګورئ پوچ ګو-

پوچ ورد:(پو-چو-رد)اسم- مذکر- بدرد- ردبد- کنځلې- زیری- بدزبانی- (افغانستان)-

پوچول:(پو-چ-ول)مصدر متعدی- (۱)سر خوړل- مغز خالی کول- (۲)بې نتیجې او بې حاصله کول- (۳)رو کول- (۴)کارتوس خالی کول- پرزول- ټکل- (افغانستان)-

پوچون:(پو-چ-ون)حاصل مصدر- وګورئ پوچول-

پوچونکے:(پو-چ-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پوچونکی- مؤنث پوچونکې- وګورئ پوچول-

پوچونه:(پو-چ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ پوچول-

پوچه:(پو-چه)اسم- واحد- مؤنث- پوڅه- تخه- متر- دَ شوملو رش تلے-

پوچه:(پو-چه)اسم- واحد- مؤنث- پۀ پېر نری لېو دَ زمکې یا دېوال وغېره لیو- پونچه-

پوچه:(پو-چه)اسم صفت- واحد- مؤنث- دَ پوچ مؤنث- (۱)خالی- تشه- عبث- بې فائدې (۲- اسم)سپوره- ستفه- پوچې خبرې- ورانې خبرې- جمع پوچې-

پوچه زېره:(پو-چه-زې-ره)اسم صفت- واحد- مؤنث- پېره پلیته- پېره مکاره- کنجره- کاسیره-

پوچې بورې:(پو-چې-بو-رې)اسم- مؤنث- فضولې خبرې- عبث خبرې- حشې خبرې- چټی خبرې-

پوچېدل:(پو-چې-دل)مصدر- دَ "پوچ" نه مصدر لازم- غل کېدل- دَ کالتوس نۀ خلاصېدل-

پوچېدن:(پو-چې-دن)حاصل مصدر- وګورئ پوچېدل-

پوچېدنه:(پو-چې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ پوچېدل-

پوچېدونکے:(پو-چې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پوچېدونکی- مؤنث پوچېدونکې- وګورئ پوچېدل-

پوچېدۀ:(پو-چې-دۀ)حاصل مصدر- وګورئ پوچېدل-

پوچی:(پو-چی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- کهر- تومړی- کچری- دَ خټکو یا ایندوانو پۀ تالا شوی باغ کښې پۀ بوټو پورې نښتی واړۀ خټکی یا ایندوانې- (۲)دَ ګل کلی- (۳)وړه مېوه-

پوڅتی:(پو-څ-تی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ پوڅکی-

پوڅکه:(پو-څ-که)اسم- واحد- مؤنث- کچه دانه- اومه دانه- پی دانه- هغه دانه چې پخه شوې نۀ وی- جمع پوڅکې-

پوڅکی:(پو-څ-کی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- کمتره- کوتره-

پوښکی:(پو-ښ-کی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)نرمی- پستکی- پځکی- پوځی- دَ غوږ لاندینی نرمه حصه- (۲)پوڅکی- پوڅتی- ستوړے- پرېېزنے- پینکری-

پوڅه:(پو-څه)اسم- واحد- مؤنث- پوک- توپاله- تغاله- څخبوکے- ګل-

پوڅه:(پو-څه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خام پنیر- پرنړ- پوچه- (۲)دَ شاتو دَ مچو ګبین-

پوڅه:(پو-څه)اسم- واحد- مؤنث- دَ اوړکی دننه مغز یا چکی چې اکثر دَ خوړلو د پاره ایستلے کیږی- چفتی- چخچی- چغزی- چکی-

www.pukhto.net

پوښياکه:(پوښ-يا-که)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پوښۍ-

پوښې پوښې:(پو-ښې-پو-ښې)اسم صفت- نرمې نرمې (دَ پنير په شان)- اوپره اوپره-

پوښۍ:(پو-ښۍ)اسم- واحد/جمع- مؤنث- بوښکۍ- دَ غوږ لاندې نرمه حصه-

پوښۍ:(پو-ښۍ)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دَ وړيو هغه ګنجې چې په لاس کښې وربشلو د پاره جوړه شوې وي- لښۍ- ليښۍ- (افغانستان)-

پوخ:(پوخ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)دَ اوم، کچه ضد- (۲)پوه- تجربه کار- هوښيار- زيرک- (۳)تر کماله رسيدلے- (۴)دَ خوراک قابل وخت ته رسيدلے فصل يا ميوه- (۵)کلک- ټينګ- مضبوط- (۶)غوره- غوريز- چوڼ- (۷)مشروت- پوخنے- پخنے- پوخته- (۸)دَ بدن دَ څنو حصو دَ سرو کېدو دَ بيمارۍ مريض لکه پخه خله، پخې سترګې، پوخ غوږ لرونکے-

پوخ:(پوخ)اسم صوت- (۱)دَ ويرولو اواز- (۲)دَ حيرت دَ پاره اواز-

پوخ پتير:(پوخ-په-تير)اسم صفت- چالاک- هوښيار- زيرک-

پوختوب:(پوخ-توب)اسم- دَ پوخ کېدو حالت- پوخ والے- پوختيا- کلکوالے- ټينګ والے- مضبوط والے-

پوختون:(پوخ-تون)اسم- ښتی- لوظ يا قول پخونه- تاکيد- اصرار-

پوختيا:(پوخ-تيا)اسم- مؤنث- وګورئ پوختوب-

پوخړه:(پوخ-ړه)اسم صفت- وريت پريت- کسکر- سوے- لوغړن- دا ټکے دَ سوځړه سره يو ځاې استعماليږي لکه سوځړه پوخړه- (افغانستان)-

پوخلې:(پو-خه-لې)اسم- واحد- مؤنث- پخلې- توره عاره- توره تخلې- بانګی تخے- شنه تخله- باخلې-

پوخنا:(پوخ-نا)اسم صفت- پوخ ملک- پخنے- پوخناے- زيرک- لۀ خپله عمره زيات هوښيار ملک- پخناتے- پوخنه- پوخ پتير-

پوخناے:(پوخ-نا-ے)اسم صفت- پخناتے- وګورئ پوخنا-

پوخندې:(پو-خن-دې)اسم- پخوندې- پيلې- پاتلې- (دَ پښې)-

پوخنه:(پوخ-نه)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ پوخنا-

پوخنے:(پوخ-نے)اسم صفت- وګورئ پوخنا-

پوخوالے:(پوخ-وا-لے)اسم- وګورئ پوختوب-

پوخول:(پو-خ-ول)مصدر متعدی- وګورئ پخول-

پوخه:(پو-خه)اسم- واحد- مؤنث- د خرمنې هغه وړې ټوټې چې د نورې خرمنې دَ رندې کولو او ګيرلو نه وروستو پاتې شي-

پوخېدل:(پو-خې-دل)مصدر لازم- پوخ کېدل- وګورئ پخېدل-

پود:(پود)اسم- واحد- مذکر- بوده- دَ جولاګانو دَ کپړو جوړولو دَ فن په اصطلاح هغه تارونه چې په پساره استعماليږي- دَ تنستې ضد- (م- فارسی)-

پوډر:(پو-ډر)اسم صفت- دَ کس بچے- دَ کسی زوئ (يو کنځل)- مؤنث پوډره- جمع مؤنث پوډرې-

پوډره:(پو-ډ-ره)اسم صفت- واحد- مؤنث- د پوډر مؤنث- وګورئ پوډر-

پودنا:(پود-نا)اسم- واحد- مذکر- مرز- سائنسی نوم کوټرنکس (COTURNIX)-

پودناباز:(پود-نا-باز)اسم- پټېرباز-

پودول:(پو-دو-ول)مصدر متعدی- سوزول- لمبه کول-

پودولے:(پو-دو-ولے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پودولی- مؤنث پودولې- وګورئ پودول-

پودون:(پو-دو-ون)حاصل مصدر- وګورئ پودول-

پودونکے:(پو-دو-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پودونکی- مؤنث پودونکې- وګورئ پودول-

پودونګ:(پو-دو-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پودول-

پودونه:(پو-دو-ونه)حاصل مصدر- وګورئ پودول-

پوده:(پو-ده)اسم صفت- (۱)خراب- سخا- خوړين- خوسا- (۲)بوده- جمع پودی-

پودينه:(پو-دي-نه)اسم- واحد- مؤنث- يو تېز خوشبودار بوټے چې دَ چټنی جوړولو د پاره استعماليږي- نانا- وبلنے- ابلنے- پلنے- نباتاتی نوم مينتها سپيرا-

پوډر:(پو-ډر)اسم- واحد- مذکر- (۱)باريک ميده کړے څيز- سفوف- (۲)په مح د لګولو يو مخصوص سفوف- (۳)هيروئن- يوه خطرناکه نشه-

پور:(پور)اسم- واحد- مذکر- (۱)قرض- (۲)قصاص- بدل- (۳)نقصان- تاوان- زيان-

پور:(پور)اسم- واحد- مذکر- بچے- زوئ- (م- فارسی)-

پور:(پور)اسم- واحد- مذکر- وار- بوره- ردہ- برګ- غل- قط- پړک- تہ-

پور:(پور)اسم- واحد- مذکر- دَ کتو رس چې ګړه ترې پخولے شي- جمع پوروونه-

پور:(پور)اسم صفت- پړک- (م- فارسی پړا)-

پوراک:(پو-راک)اسم- واحد- مذکر- حاجت- ضرورت- سخته متازي-

پورانيه:(پو-را-ن-يه)اسم- واحد- مؤنث- تسلّی- اطمينان- (افغانستان)- جمع پورانيې-

پورانۍ:(پو-را-نۍ)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پورايينه- پوره کونه- کاملونه- بشپړونه- (۲)ادا کونه- پور ورکونه- (افغانستان)-

پوراينه:(پو-را-ي-نه)اسم- (۱)سر ته رسونه- پورانۍ- بشپړونه- پاې ته رسونه- (۲)ادا کونه- ادائينه- (افغانستان)-

پورتنے:(پور-ت-نے)اسم صفت- (۱)پورته سره نسبت لرونکے- (۲)دَ "لاندينے" ضد- دَ برہ- پورته- پاس- پاسنے- (۳)دَ غرۀ يا پښتونخوا وسېدونکے- (۴)دَ لوړې علاقې سره نسبت لرونکے- جمع پورتنی-

پورته:(پور-ته)اسم صفت- (۱)برہ- پاس- وچت- لوړ- جګ- (۲)په هوا کښې- په فضا کښې- (۳)په مرتبه کښې وچت- په درجه کښې لوړ- (۴)(عاميانه)دَ پورته شه محفف (ديو معنو کښې امر)-

پورته پورته:(پور-ته-پور-ته)اسم صفت- (۱)برہ برہ- وچت وچت-

www.pukhto.net

(۲)پهر ته-

پورته کول(پور-ته-کـول)مصدر متعدی- (۱)خېژول- رچتول- (۲)ترقي ورکول- (۳)غبېول- (۴)اخستل- (۵)نکول- (۶)بغاوت ته پاسول-

پورته کونکے(پور-ته-کـوون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پورته کونکي- مؤنث پورته کونکې- وګورئ پورته کول-

پورته کونه(پور-ته-کـو-نه)حاصل مصدر- وګورئ پورته کول-

پورته کېدل(پور-ته-کې-دل)مصدر لازم- (۱)ختل- وچتېدل- (۲)ترقي کول- بره تلل- (۳)عبېدل- (۴)الکېدل- (۵)بغاوت ته پاسېدل-

پورته کېدن(پور-ته-کې-دن)حاصل مصدر- وګورئ پورته کېدل-

پورته کېدنګ(پور-ته-کې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ پورته کېدل-

پورته کېدنه(پور-ته-کې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ پورته کېدل-

پورته کېدونکے(پور-ته-کې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پورته کېدونکي- مؤنث پورته کېدونکې- وګورئ پورته کېدل-

پورته کېده(پور-ته-کې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري- واحد غائب صيغه- وګورئ پورته کېدل-

پورچ(پور-چ)اسم- واحد- مذکر- (۱)ډيوړی- د دروازې نه مخکښې په چت پټ شوے ځاے- (۲)د يوناني فلسفې د يو مکتب نوم-

پورخنګ(پور-خنګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)پارخنګ- پوری- اندرپايه- (۲)وګورئ څرے-

پوردار(پور-دار)اسم صفت- مقروض- پور لرونکے- قرض دار-

پوردي ګار(پور-دي-ګار)اسم صفت- خداې پاک- پالونکے- د پروردګار عاميانه تلفظ- (م- فارسي)-

پور راپورې(پور-را-پو-رې)حرف جار- لورې وورې- پورې راپورې- يو خوا بل خوا-

پورژن(پور-ژن)اسم- واحد- مذکر- رټلے شوے- شړلے شوے- پورژنے-

پورژنے(پور-ژنے)اسم- واحد- مذکر- (۱)پردېسی- مسافر- بې وطنه- (۲)رټلے شوے- شړلے شوے- فراري- د وطن نه تښتېدلے- مفرور- پورژن- جمع پورژني-

پورغو(پور-غو)اسم- سرې- پرغو- پلغو- پولغو- پرېيغے- غاړه شوي غوايان- جوړه غوايان-

پورلرونکے(پور-لر-رون-کے)اسم صفت- وګورئ پوردار- جمع پورلرونکي-

پوروړے(پو-ر-وړے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)پوردار- مقروض- پورلرونکے- قرصدار- (۲)قرض ورکونکے- پور ورکونکے-

پوروړل(پو-ر-وړل)مصدر متعدی- (۱)قرض اخستل- پور کول- قرضول- (۲)غندول- جمع کول- (۳)زبادرل- زباتول-

پوروړن(پو-ر-وړن)حاصل مصدر- وګورئ پوروړل-

پوروړونکے(پو-ر-وړون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پوروړونکي- مؤنث پوروړونکې- وګورئ پوروړل-

پوروړنګ(پو-ر-وړنګ)حاصل مصدر- وګورئ پوروړل-

پوروړنه(پو-ر-وړنه)حاصل مصدر- وګورئ پوروړل-

پوروړے(پو-ر-وړے)اسم- واحد- مذکر- کتم- پوروړوکے- بوږ- لمدبل- ځکړے- ګاون- جمع پوروړي-

پوره(پو-ره)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)کامل- تمام- ثابت- ګرد- سالم- مکمل- (۲)اجل- مقرره- قضا- (۳)ختم- (۴)موړ او پټ- (۵)دولتمند- (۶)ډېر چالاک- ډېر فريبي-

پوره پوره(پو-ره-پو-ره)صفت- پوره په پوره- پول- مکمل- بې له څه سمکرتيا-

پوري(پو-ري)اسم صفت متعلق فعل- (۱)نږدې- (۲)خوا ته- (۳)د سيند، نهر وغيره بله غاړه- (۴)د هغه په شان- (۵)بند- در- کمره وغيره- (۷)قرض شوی- (۸)لګېدلے-

پورېباسل(پو-رې-باسل)مصدر- وګورئ پورېستل-

پوري راپورې(پو-ري-را-پو-ري)اسم صفت متعلق فعل- دواړه خوا- دواړه طرفه- د سيند يا نهر وغيره دواړه غاړې-

پورېستل(پو-رې-ستل)مصدر- د سيند نهر وغيره بلې غاړې ته رسول- بلې غاړې ته اړول- پورېباسل- پورې وسل-

پوري کول(پو-ري-کـول)مصدر متعدی- (۱)پورېباسل- پورېستل- لګول- کېښودل- ږدل- (۲)بندول- (۳)شروع کول- (۴)بلول- (۵)تپل- (۶)مښل- (۷)د نکولی يا بل کوم داسې څيز سره روټي خوړل-

پوري کون(پو-ري-کـون)حاصل مصدر- وګورئ پوري کول-

پوري کونکے(پو-ري-کوون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پوري کونکي- مؤنث پورې کونکې- وګورئ پورې کول-

پوري کونګ(پو-ري-کـونګ)حاصل مصدر- وګورئ پوري کول-

پوري کونه(پو-ري-کـو-نه)حاصل مصدر- وګورئ پورې کول-

پوري کونے(پو-ري-کـوونے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پورې کوني- مؤنث پورې کونې- وګورئ پوري کون-

پوري کېدل(پو-ري-کې-دل)مصدر لازم- (۱)بلې غاړې ته پوري وتل- (۲)لګېدل (د اور) ورته کېدل- (۳)د دروازې وغيره) بندېدل- (۴)تپلے کېدل-

پوري کېدن(پو-ري-کې-دن)حاصل مصدر- وګورئ پورې کېدل-

پوري کېدنګ(پو-ري-کې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ پورې کېدل-

پوري کېدنه(پو-ري-کې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ پورې کېدل-

پوري کېدونکے(پو-ري-کې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پوري کېدونکي- مؤنث پوري کېدونکې- وګورئ پورې کېدل-

پوري واتنه(پو-ري-وا-تنه)حاصل مصدر- (۱)پورې وتنه- د سيند، نهر وغيره بلې غاړې ته تېرېدنه- (۲)کامیابېدنه- مطلب پوره کېدنه-

پوري وتل(پو-ري-و-تل)مصدر- (۱)عبور کېدل- د سيند يا نهر وغيره

www.pukhto.net

بلې غاړې ته رسېدل- (۲)په مشکله کامیابۍ ته رسېدل-
پوری وتلے:(پو-رې-و-تـَلـے)اسم معمول- واحد- مذکر- جمع پوری وتلي- مؤنث پورې وتلې- وګورئ پوری وتل-
پوري وتن:(پو-رې-و-تن)حاصل مصدر- وګورئ پورې وتل-
پوری وتنګ:(پو-رې-و-تنګ)حاصل مصدر- وګورئ پورې وتل-
پوری وتنه:(پو-رې-و-تـَنـَه)حاصل مصدر- وګورئ پورې وتل-
پورې وتونکے:(پو-رې-و-تـُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پوری وتونکي- مؤنث پورې وتونکې- وګورئ پورې وتل-
پورې ووړي:(پو-رې-وو-ړې)اسم صفت- (۱)وګورئ پورې راپورې- (۲)حېران- اریان- (۳)کوز پاس- ښکته پورته-
پورې وهل:(پو-رې-وهل)مصدر- (۱)تېله ورکول- دیکه ورکول- تمبول- (۲)تسکورول- غرځول- (۳)مېل- (۴)مرسته کول- (۵)غوول- (۶)په زور وهل- (د پولکۍ د پاره)-
پورې وهلے:(پو-رې-و-هَـلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پورې وهلي- مؤنث پورې وهلې- وګورئ پورې وهل-
پورې وهن:(پو-رې-و-هن)حاصل مصدر- وګورئ پورې وهل-
پورې وهنګ:(پو-رې-و-هَنګ)حاصل مصدر- وګورئ پورې وهل-
پوری وهنه:(پو-رې-و-هَـنـَه)حاصل مصدر- وګورئ پورې وهل-
پورې وهونکے:(پو-رې-و-هُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پورې وهونکي- مؤنث پورې وهونکې- وګورئ پورې وهل-
پورے:(پو-رے)اسم- واحد- مذکر- تراړے- جمع پوری-
پوړ:(پوړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)منیاد- بېخ- وېخ- ردہ- اساس- بنسټ- (۲)د کنې پوک- (۳)نوئ او پلی پوړے- (۴)کچه- نیم پخته- (۵)خلموټې- ژبې- خواني ته نژدې- (اسم صفت)-
پوړ:(پوړ)تابع مهمل- دا کلمه د زور او سوړ سره د تاکید په ډول راځي چې د (پېر زیات) معنیٰ ورکوي مګر خاتله معنیٰ نه لري- لکه سوړپوړ، زوړپوړ وغېره-
پوړ:(پوړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)قرض- (۲- صفت)ړک- موړ-
پوړ:(پوړ)اسم- واحد- مذکر- پروړه- بوس- پېړ- سهین واښه- جمع پوړونه-
پوړ:(پوړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)د مېچنې پل- (۲)پټ- تہ-
پوړ:(پوړ)اسم- مذکر- (۱)منزل- قطار- مرتبه- صف- طبقه- (۲- صفت)- بنکېل- (افغانستان)-
پوړ:(پوړ)اسم- واحد- مذکر- هغه رسۍ چې د څناررو پېښې پرې ترلے شي- جمع پوړونه-
پوړ:(پـُوړ)اسم صفت- وګورئ پواړ- (م- هندی)-
پوړ:(پوړ)اسم صفت- کچه- چې لا پوخ شوے نه وي-
پوړا:(پو-ړا)اسم صفت- پاېه- ارام- ټینګ- مطمئن- (افغانستان)-
پوړاینه:(پو-ړا-یـَنـَه)اسم- واحد- مؤنث- اطمینان- پاو- تسلی- ابمتی-

(افغانستان)-
پوړ پر پوړ:(پوړ-پر-پوړ)اسم صفت- وګورئ پوړ په پوړ-
پوړ په پوړ:(پوړ-په-پوړ)اسم صفت- پوړ پر پوړ- پټ په پټ- طبقه په طبقه- منزل په منزل- ته په ته- لاندې پاس- (افغانستان)-
پوړده:(پو-ړده)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پورده- پرده- پړده- (۲- صفت)ذمه وار- پر- (۳)مطمئن-
پوړنده:(پو-ړن-ده)اسم- (۱)بوسړ- (۲)کرمه یا توده ایره- (۳)وچه نرمه خاوره- (۴)نرمه- مېده- (افغانستان)-
پوړنده توب:(پو-ړن-ده-توب)اسم- د پوړنده کېدو حالت- پوړنده تیا- پوړنده والے-
پوړنده تیا:(پو-ړن-ده-تیا)اسم- وګورئ پوړنده توب-
پوړنده والے:(پو-ړن-ده-وا-لے)اسم- وګورئ پوړنده توب-
پوړنے:(پو-ړنے)اسم- واحد- مذکر- پړونے- تکرے- پټکے- د زنانو څادر- جمع پوړني-
پوړو:(پو-ړو)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)پاړو- جادوګر- دم ګرے- کوډی- (۲)چالاک- ټګ- مکار- برګ-
پوړه:(پو-ړه)اسم صفت- (۱)مطمئن- پورده- (۲)تسلی-
پوړه:(پو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پوړا-
پوړه:(پو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- بېلچه- کرۍ- خوړے- پاکوونے- راشپېل- بیم- د تل یا اصطبل صفا کولو پوړی یا بېلچه- (م- هندی پهاوړه)-
پوړیز:(پو-ړیز)اسم صفت- (۱)پوړ ته منسوب- د پوړ- پوړییز- (۲)پاتکی لرونکے-
پوری:(پو-ړی)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)پېړۍ- اندرپایه- پارځنګ- پارچنګ- پارځنګ- پوړځنګ- زینه- (۲)د اندرپای پاتکے- پټه- (۳)کوټې ته جوړ شوی پاتکی لاره-
پوړی:(پو-ړی)اسم- واحد جمع- مؤنث- هغه بېلچه چې پوړے پکښې وي او دوه کسان ورباندې کار کوي- پنکه- مانجه- پنجه- کراه- چاړی-
پوړی:(پو-ړی)اسم- واحد جمع- مؤنث- پوبۍ- پړی- هغه دارو یا څهٔ بل څیز چې په کاغذ کښې نغښتی وي- (م- هندی پړیا)-
پوړی:(پو-ړی)اسم- واحد جمع- مؤنث- په غوړو کښې سره کړې د مېدې نرمه وېشلې- (م- هندی پوړی)-
پوز بند:(پوز-بند)اسم- واحد- مذکر- کوړے- د لوخې یا مېرزی نه جوړ د څاروو د خلو د بندولو د پاره استعمالېدونکے جالګے-
پوز پرېکړے:(پوز-پرې-کـَړے)اسم صفت- (۱)سونجے- څنجے- بونجا- (۲)شرموونے- بدنام- شرمېدلے- جمع پوزپرېکړی-
پوزکی:(پو-ز-کی)اسم تصغیر- واحد جمع- مؤنث- وړه پوزه- د پوزې اسم تصغیر- وګورئ پوزه-
پوزکے:(پو-ز-کے)اسم- واحد- مذکر- انهېرے- د پوزې اسم تصغیر-

www.pukhto.net

جمع پورکي۔

پوزمار:(پوز-مار)اسم۔ پوزی وال۔ پوزی جوړونکے۔

پوزمال:(پوز-مال)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دَ پوزې پاکولو رومال۔ دستمال۔ دَسمال۔

پوزمیر:(پوز-میر)اسم صفت۔ غټه پوزه لرونکے۔ غټ پوزے۔ پوزه ور۔

پوزو:(پو-زو)اسم صفت۔ دَ غټې پوزې لرونکے۔ غټ پوزے۔

پوزور:(پو-زه-ور)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ غټه پوزه لرونکے۔ پوزه میر۔ پوز میر۔ غټ پوزے۔

پوزه:(پو-زه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ د سترګو په منځ کښې دَ مخ هغه اندام چې ساه پرې اخستے شي۔

پوزه:(پو-زه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ شوبې۔ ورسکه۔ دَ غرۀ، نغرې یا غنړی راوتې څوکه۔ جمع پوزې۔

پوزه تو:(پو-زه-تو)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)دَ پوزې خاوند۔ دَ عزت خاوند۔ (۲)بدنامه۔ پوزور۔

پوزیشن:(پو-زي-شن)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)موقعه۔ ځاې۔ حالت۔ مقام۔ مورچه۔ (۲)حیثیت۔ حالت۔ (۳)رول۔ طرز۔ خیال۔ انداز۔ نکته۔ (۴)مرتبه۔ عهده۔ مقام۔ شغل۔ (م۔ انګریزي)۔

پوزے:(پو-زے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)مهار۔ نته۔ مار۔ هغه رسی چې دَ اوښ پوزې ته اچولے شي۔ (۲)هغه رسی یا پړے چې د اوښ له سره راتاو شوي وي۔

پوزے:(پو-زے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ انبرې۔

پوو:(پوو)اسم۔ (۱)دَ لومار دَ پوکی اواز۔ (۲)دَ پش دَ بنی اواز۔ (۳)په خلهٔ دَ اُبو شیندلو کار۔ (۴)بخار۔

پوول:(پو-ول)مصدر متعدی۔ پوکنول۔ پوژویل۔ پوړول۔ نُستل۔ نوستل۔ ترمکه کول۔ ترمیا کول۔ په خلهٔ اُبهٔ یا بل مائع څیز شیندل۔

پوولے:(پو-وَلے)اسم مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ جمع پوولی۔ مؤنث پوولې۔ وګورئ پوول۔

پوون:(پو-ون)حاصل مصدر۔ وګورئ پوول۔

پوونګ:(پو-ونګ)حاصل مصدر۔ وګورئ پوول۔

پوونه:(پو-ونه)حاصل مصدر۔ وګورئ پوول۔

پووول:(پو-و-ول)مصدر متعدی۔ وګورئ پوول۔

پوووَلے:(پو-و-وَلے)اسم مفعول۔ پوولے۔ وګورئ پووول۔

پووونکے:(پو-و-وون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع پووونکی۔ مؤنث پووونکې۔ وګورئ پوول۔

پووونګ:(پو-و-ونګ)حاصل مصدر۔ وګورئ پووول۔

پووونه:(پو-و-ونه)حاصل مصدر۔ وګورئ پووول۔

پوو وهل:(پوو-وَهل)مصدر۔ پوکول۔ پوول۔ په خلهٔ اُبهٔ یا بل مائع څیز شیندل۔

پوو وهلے:(پوو-وَهلے)اسم مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ جمع پوو وهلي۔ مؤنث پوو وهلې۔ وګورئ پوو وهل۔

پوو وهن:(پوو-وَهن)حاصل مصدر۔ وګورئ پوو وهل۔

پوو وهنګ:(پوو-وَهنګ)حاصل مصدر۔ وګورئ پوو وهل۔

پوو وهنه:(پوو-وَهنه)حاصل مصدر۔ وګورئ پوو وهل۔

پوو وهونکے:(پوو-وهون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع پوو وهونکی۔ مؤنث پوو وهونکې۔ وګورئ پوو وهل۔

پووے:(پو-وے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دَ پیاز په شان بیخ لرونکے واښهٔ۔ جمع پووی۔

پوس:(پوس)اسم صفت۔ نرم۔ نازک۔ جمع پاستهٔ۔ مؤنث پوسه۔ جمع مؤنث پوسې۔ (عامیانه)۔

پوس:(پوس)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ ځرب خاروے۔ چاغ حیوان۔ مزے حیوان۔ مؤنث پوسه۔ جمع مؤنث پوسې۔ (افغانستان)۔

پوسپوسک:(پوس-پو-سک)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دَ توتانو په ونه کښې کېدونکې یو بدبویه او خزنکے چینجے۔ (افغانستان)۔ جمع پوسپوسکی۔

پوسپوسے:(پوس-پو-سے)اسم صوت۔ وګورئ پوسکے۔

پوست:(پوست)اسم صفت۔ د کلک ضد۔ مېده۔ نرم۔ نازک۔ ملائم۔ جمع پاستهٔ۔ مؤنث پسته۔

پوست:(پوست)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)څرمن۔ پوستکے۔ پوټکے۔ وزن۔ ژون۔ (۲)د قراقلی پوستکے۔ (۳)دَ خشخاشو غوټی۔ پوپه۔ (م۔ فارسي)۔

پوست پوست:(پوست-پوست)اسم صفت (مرکب)۔ نرم و نازک۔ هوار او مهین۔ ملائم۔

پوستک:(پوس-تک)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دَ څرمنې ټوټه۔ (افغانستان)۔

پوستکی:(پوس-تکي)اسم۔ واحد جمع۔ مؤنث۔ پټ۔ څرمن۔

پوستوالے:(پوست-والے)اسم۔ دَ پوست کېدو حالت۔ نرمي۔ نرم والے۔ ملائمتوب۔ مېده توب۔

پوستول:(پوس-تول)مصدر متعدی۔ (۱)څرمن ویستل۔ (۲)مېده کول۔ پستول۔ (۳)په بې انصافی یا زور زیاتی سره له چا مال دولت شوکول۔ (۴)پېر زیات وهل۔ (افغانستان)۔

پوستون:(پوس-تون)حاصل مصدر۔ وګورئ پوستول۔

پوستونکے:(پوس-تون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع پوستونکی۔ مؤنث پوستونکې۔ وګورئ پوستول۔

پوستونګ:(پوس-تونګ)حاصل مصدر۔ وګورئ پوستول۔

پوستونه:(پوس-تونه)حاصل مصدر۔ وګورئ پوستول۔

پوسته:(پوس-ته)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ ډاکخانه۔ (افغانستان)۔

پوسته:(پوس-ته)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)دَ خشخاشو غوټی۔ دَ افیمو پوپه۔ پوست۔ (۲)دَ پوپی عرق۔

پوستي:(پوس-تي)اسم صفت۔ (۱)پوست خورونکے۔ نشئی۔ (۲)ناراسته۔ لټ۔

زبر "(خ-بـِـر-ه)"، زورکے "(ښل)"، "پېش"(نو-کا-سره)"، زېر "(کـ-تـاب)"، جزم "(شکون)"، "ه"(زَ-ړه)"، "ۀ"(پو-ښې-دهٔ)"

www.pukhto.net

ښت- بې کاره- (۲)شریف- امن پسند- جمع پوستیان-

پوستین:(پوس-تین)اسم- واحد- مذکر- د ګډورو له څرمنې جوړ واسکټ- نیم تنے-

پوستینچه:(پوس-تین-چه)اسم تصغیر- د پوستین اسم تصغیر- ووړکے کوټ- لنډ کوټ- جمع پوستینچې-

پوستینه:(پوس-تي-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پوستین-

پوستېدل:(پوس-تې-دل)مصدر لازم- (۱)پوست کېدل- کوتل کېدل- نرمېدل- پستېدل- (۲)ډېر زیات وهلے کېدل-

پوستېدن:(پوس-تې-دن)حاصل مصدر- وګورئ پوستېدل-

پوستېدنګ:(پوس-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ پوستېدل-

پوستېدنه:(پوس-تې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ پوستېدل-

پوستېدونکے:(پوس-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پوستېدونکی- مؤنث پوستېدونکې- وګورئ پوستېدل-

پوستېدۀ:(پوس-تې-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ پوستېدل-

پوسټ:(پوسټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)ډاک- (۲)ځائې- څوکی- (۳)ترقي- عهده- جمع پوسټونه- (م- انګریزی)-

پوسټ آفس:(پوسټ-آ-فس)اسم- واحد- مذکر- ډاکخانه- د ډاک دفتر- جمع پوسټ آفسونه- (م- انګریزی)-

پوسټر:(پوس-ټر)اسم- واحد- مذکر- په دیوالونو د لګولو اشتهار-

پوسټ کارډ:(پوسټ-کارډ)اسم- واحد- مذکر- خط- په ډاک د لیږلو هغه خط چې لفافه کښې بند نۀ وی- وګورئ کارډ-

پوسټ مارټم:(پوسټ-مار-ټم)اسم- مړده خانه کښې د مړی طبّی معائینه- پوس ماټم- (م- لاطینی)-

پوسټ مېن:(پوسټ-مېن)اسم- پوسمېن- ډاکی- چټی رسان- (م- انګریزی)-

پوسکاوړ:(پوس-کا-وړ)اسم صفت- (۱)پوسکی لهونکے- پوسکی مار- پوسکی ډمډم- پسکن- پسکن- پسن- (۲)بې کاره- سست پست- ناراسته- بې همته- (۳)ویرېدونکے- بزدل-

پوسکن:(پوس-کن)اسم صفت- وګورئ پوسکاوړ-

پوسکی ډمډم:(پوس-کی-ډم-ډم)اسم صفت- وګورئ پوسکاوړ-

پوسکی مار:(پوس-کی-مار)اسم صفت- وګورئ پوسکاوړ- جمع پوسکی ماران- مؤنث پوسکی ماره- جمع مؤنث پوسکی مارې-

پوسکی:(پوس-کی)اسم- واحد،جمع- مؤنث- (۱)باد- پسکه- پس- له کېډې خارجېدونکې بې اوازه هوا- (۲)د تحقیر کلمه-

پوسکی:(پو-سه-کي)اسم- واحد،جمع- مؤنث- نرمه- د غوږ لاندینی برخه-

پوسکے:(پوس-کے)اسم صوت- پس پسے- پس پس- په غوږ کښې خبره- پوسهوسے- پټې پټې خبری- غلې غلې خبرې-

پوسل:(پو-سل)مصدر- غوړول- پرورش کول- لویول- (م- هندی)-

پوسل توب:(پوسل-توب)اسم- مذکر- د پوسل کېدو حالت-

پوسلل:(پوس-لل)مصدر- (۱)پسولل- پولے کول- ښکلے کول- ښائېسته کول- (۲)چت پټول- (افغانستان)-

پوسللے:(پوس-لل-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پوسللی- مؤنث پوسللې- وګورئ پوسلل-

پوسلنه:(پوس-لۀ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پوسلل-

پوسلوالے:(پو-سل-وا-لے)اسم- پول- ښکلا- ښائست- (افغانستان)-

پوسلونکے:(پوس-لون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پوسلونکی- مؤنث پوسلونکې- وګورئ پوسل-

پوسلے:(پو-سۀ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پوسلی- مؤنث پوسلې- وګورئ پوسلل-

پوسماټم:(پوس-ما-ټم)اسم- وګورئ پوسټ مارټم-

پوسن:(پو-سن)اسم صفت- (۱)پوسکن- پوسکاوړ- پسن- پوسے- (۲)ناپوهه- کم عقل- احمق- (۳)دروغژن- دروغ وهونکے- پوزې مار- (۴)ویرېدونکے- ډرن-

پوسنه:(پو-سۀ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پوسل-

پوسونکے:(پو-سون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پوسونکی- مؤنث پوسونکې- وګورئ پوسل-

پوسه:(پو-سه)اسم- واحد- مؤنث- پوک- پوڅه- کیچه- خخبوکے- تفاله- د پوڅه غلط املا-

پوسه:(پو-سه)اسم- واحد- مؤنث- د غوا مېښې سرتېه- کهیاکه- (م- پنجابی)-

پوسه:(پو-سه)اسم- واحد- مؤنث- د شنې ونې مېوه چې له مېده کولو نه پس خوړلے شي- جمع پوسې-

پوسه:(پو-سه)اسم- واحد- مؤنث- پهه- پلیه- پامه- پټې- جمع پوسې-

پوسۀ:(پو-سۀ)اسم- واحد- مذکر- ګډ- بز- پسۀ-

پوسی:(پو-سی)اسم- واحد،جمع- مؤنث- پوسکی-

پوسے:(پو-سے)اسم صفت- وګورئ پوسن- جمع پوسی-

پوش ۱:(پوش)اسم- واحد- مذکر- (۱)پوښ- غلاف- خلته- غلېب- (۲)جامه- (۳)د ناوې مخصوصه جوړه-

پوش ۲:(پوش)اسم صوت- (۱)لرې شه- بهرته شه- مخه خوا شه- بچ شه- خان وژغوره- (۲- اسم)پوشا پوش- پوش پوش- اوازونه- (م- فارسی)-

پوشا پوش:(پو-شا-پوش)اسم- وګورئ پوش ۲-

پوشاک:(پو-شاک)اسم- واحد- مذکر- لباس- جامه- کالے- نمرے- نوړے- پوپاک- جمع پوشاکونه- (م- فارسی)-

پوش پوش:(پوش-پوش)اسم- مذکر- (۱)وګورئ پوشاپوش- (۲)دونګ دونګ- خیرې خیرې- دانګ دانګ-

پوشش:(پو-شش)حاصل مصدر- فارسی کښې حاصل مصدر، پښتو کښې اسم- جامه- لباس- اغستے څیز- (م- فارسی)-

ګ (ګي-رل)، ي (مي-ره-ول)، ئ (پیا-لئ)، ے (تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

پوشیده:(پو-شي-ده)اسم صفت د "پوشیدن" مصدر نه- عیب- پرده کښې- پټ- چې څرګند نۀ وی- (م- فارسی)-

پوښ:(پوښ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پوش ۱- جمع پوښونه-

پوښ:(پوښ)اسم- واحد- مذکر- جهر- کشک- حتی-

پوشاک:(پو-ښاک)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پوشاک-

پوښتل:(پوښ-تل)مصدر- وګورئ پښتل-

پوښتلے:(پوښ-تښلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پوښتلی- مؤنث پوښتلې- وګورئ پښتلے-

پوستنه:(پوښ-تښنه)حاصل مصدر- وګورئ پښتنه-

پوښتول:(پوښ-تول)اسم- واحد- مذکر- لوی تیر- بڅ- شاتیر- وشه-

پوښتونکے:(پوښ-تون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پوښتونکی- مؤنث پوښتونکې- وګورئ پښتونکے-

پوسته:(پوش-ته)اسم- واحد- مؤنث- پښتنه- تپوس-

پوښتېدل:(پوښ-تې-دل)مصدر لازم- وګورئ پښتېدل-

پوښتېدن:(پوښ-تې-دن)حاصل مصدر- وګورئ پښتېدن-

پوښتېدنګ:(پوښ-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ پښتېدنګ-

پوښتېدنه:(پوښ-تې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ پښتېدنه-

پوښتېدونکے:(پوښ-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پوښتېدونکی- مؤنث پوښتېدونکې- وګورئ پښتېدونکے-

پوښتېده:(پوښ-تې-ده)حاصل مصدر- وګورئ پښتېده-

پوښتی:(پوښ-تي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)پښتی- (۲)کونګی- (۳)پښت- نسل- خېل-

پوښین:(پو-ښین)اسم- واحد- مذکر- پوشش- پوشین- کوټ پټونه- پۀ کوټه چې او خاوره اچونه-

پوښل:(پو-ښل)مصدر متعدی- لاس نیوه کول- فاتحه کول- پاتحه کول- غم خورګی کول- عذر کول- پارکیرنه کول-

پوښل:(پو-ښل)مصدر متعدی- پوښل- پټول- پټ ساتل- د لوښی سر پټول-

پوښلے:(پو-ښلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پوښلی- مؤنث پوښلې- وګورئ پوښل-

پوښن:(پو-ښن)حاصل مصدر- وګورئ پوښل-

پوسنګ:(پو-سنګ)حاصل مصدر- وګورئ پوښل-

پوښنه:(پو-ښنه)حاصل مصدر- وګورئ پوښل-

پوښونکے:(پو-ښون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پوښونکی- مؤنث پوښونکې- وګورئ پوښل-

پوښه:(پو-ښه)اسم- واحد- مؤنث- ستره- هغه لرګے چې پۀ اوار میدان کښې نمونځ کونکی ئې خپلې مخې ته ښخوی- جمع پوښې-

پوغله:(پوغ-له)اسم- واحد- مؤنث- بول- پاسه- پېغولی- د نوی پیدا شوی بچی نرم بول-

پوقانه:(پو-قانه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پوکانه-

پوقه:(پو-قه)اسم- واحد- مؤنث- پوزه- لاره شاهه- پوته- لویه وېناه- خان ستنه-

پوک:(پوک)اسم- (۱)بوس- پوک- پوکه- کیچه- تفاله- (۲)پو- پف- پوکے- (۳)پو- هغه څۀ چې مینځ ئې خالی وی- (۴)چتی- عبث- څشے- بې مغزه- سپک- احمق- (اسم صفت)-

پوکاره:(پو-کا-ره)اسم- واحد- مؤنث- پو- پوکے- پف- اور یا څۀ تود ګیر ته پوکے ورکونه-

پوکانه:(پو-کا-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کوبی- پوکنۍ- کوبی- پوقانه- سوغی- کوکبانی- خوبنی- پوکناړی- پونګړکه- (۲)د باد پوزه- پړپوکی- (۳)د باران سره جوړېدونکے د ابو پۀ سر کټورے- بوړبوړکی- حباب- (۴)مثانه-

پوکانی:(پو-کا-نی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ پوکانه-

پوکل:(پو-کل)مصدر متعدی- هوا ورکول- باد ورکول- پوکاره ورکول- پۀ خلۀ غوړل- (د شپېلۍ یا سرنا د پاره)-

پوکنول:(پو-کن-ول)مصدر متعدی- وګورئ پوړ وهل-

پوکنولے:(پو-کن-ولے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پوکنولی- مؤنث پوکنولې- وګورئ پوړ وهلے-

پوکنون:(پو-کن-ون)حاصل مصدر- وګورئ پوړ وهن-

پوکنونکے:(پو-کن-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پوکنونکی- مؤنث پوکنونکې- وګورئ پوړ وهونکے-

پوکنونګ:(پو-کن-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پوړ وهنګ-

پوکنونه:(پو-کن-ونه)حاصل مصدر- وګورئ پوړ وهنه-

پوکنه:(پو-کنه)حاصل مصدر- وګورئ پوکل-

پوکناړی:(پو-کنا-ړی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ پوکانه-

پوکنانی:(پو-کنا-نی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)بوربوکی- حباب- بربرتی- بوربوړکی- (۲)د بولو ګګوره- مثانه- (۳)وګورئ پوکانه-

پوکنی:(پو-کنی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ پوکانه-

پوکول:(پو-کول)مصدر متعدی- وګورئ پوکل-

پوکون:(پو-کون)حاصل مصدر- وګورئ پوکول-

پوکونکے:(پو-کون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پوکونکی- مؤنث پوکونکې- وګورئ پوکول-

پوک وهل:(پوک-وهل)مصدر متعدی- پوکے ورکول- پړسول- هوا ورکول- غړول-

پوکېدل:(پو-کې-دل)مصدر لازم- (۱)د هوا بکېدل- پوکے ورکېدل- (۲)د ماشوماتو پۀ ژبه کښې سوربدل-

پوکېدن:(پو-کې-دن)حاصل مصدر- وګورئ پوکېدل-

پوکېدنګ:(پو-کې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ پوکېدل-

پوکېدنه:(پو-کې-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ پوکېدل-

پوکېدونکے:(پو-کې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پوکېدونکي- مؤنث پوکېدونکي- وګورئ پوکېدل-

پوکېدهٔ:(پو-کې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ پوکېدل-

پوکي:(پو-کي)اسم- واحد جمع- مؤنث- بنې- پوګر-

پوکے:(پو-کے)اسم- واحد- مذکر- پڼه- پوکاره- دَ خلې غنه دوا- جمع پوکي-

پوکے:(پو-کے)اسم تصغير- دَ پوک يا پک اسم تصغير-

پوګ:(پوګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)پک- اګ- پوتل- دَ رس لرونکيو شيزونو هغه حصه چې د ژوولو يا استعمالولو نه پس پاتې شي- (۲)پو- پوګه- حالي- تش- بې کاره (صفت)-

پوګر:(پو-ګر)اسم- واحد- مذکر- هغه تلي چې زرګران يې د اور بلولو دَ پاره استعمالوي- بنې-

پوګړي:(پوګ-ړي)اسم صفت- پاسې-

پوکه:(پو-که)اسم صفت- واحد- مؤنث- وګورئ پوک-

پول:(پول)اسم- واحد- مذکر- دَ سيند، نهر، نالي يا کندې دَ پاسه دَ تېرېدلو د پاره جوړه شوې لاره- جمع پولونه-

پول:(پول)اسم- واحد- مذکر- روپۍ- سکه- دولت- (افغانستان)-

پولاد:(پو-لاد)اسم- واحد- مذکر- (۱)لوره- فولاد- دَ اُسپنې سخت شکل- (۲)سخت او مضبوط وجود- (۲)کلک- مضبوط- (م- فارسي)-

پولادي:(پو-لا-دي)اسم صفت- (۱)د پولاد نه جوړ- سخت- مضبوط- ټينګ- عښتلے- (۲)عياش- (۲)د يو قسم رنګ نوم- (اسم) (افغانستان)-

پولالين:(پو-لا-لين)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پلالين-

پولاو:(پو-لاو)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پلاو-

پول پوښ:(پول-پوښ)اسم- دَ کاريز يا نهر دَ پاسه چت-

پول پولک:(پول-پو-لک)اسم- واحد- مذکر- دَ اُبو په غاړه زرغونېدونکے يو تريخ بوټے چې سرهٔ سرهٔ تېرهٔ ازغي لري- (۲)نيغ- نېغکے- (۲)شاتره- نباتاتي نوم فيوبريا آفسي نېليس-

پولټيکل:(پول-ټي-کل)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ قبائلو دَ ايجنسي دَ انتظام لوئ افسر- پولټيکل ايجنټ- (۲)پوهه- چالاک- هوښيار- (دَ پولېټيکل مفق)-

پولټيکلي:(پول-ټي-کل-لي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د پولټيکل علاقه ايجنسي- (۲)چالاکي- فريب-

پولس:(پو-لس)اسم- واحد- (۱)پوليس- د امن و امان قائم ساتلو محکمه- (۲)دَ پوليس سپاهي- جمع پولسان- (د سپاهي په معنیٰ کښې)-

پولک:(پو-لک)اسم- واحد- مذکر- هغه مېخ چې په کنډه کښې دَ پالې دَ ټينګولو دَ پاره ورکولے کيږي-

پولکي:(پول-کي)اسم- واحد جمع- مؤنث- پالکي- د هاتي کجاوه-

پولکي:(پول-کي)اسم- واحد جمع- مؤنث- په تبي يا تبخي پخه شوې د غنمو نرۍ روټۍ- چپاتۍ- ځپاسۍ- پاسۍ- (م- هندي- پهلکا)-

پولکے:(پول-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)وګورئ پولکي- (۲)د اُسپې هغه سيخ (رمبے) چې خله يې پلنه وي او تنور نه پرې روټۍ راباسلے شي-

پولنګ:(پو-لنګ)اسم- واحد- مذکر- د ووټونو اچونه- (م- انګرېزي)-

پولنګ افسر:(پو-لنګ-اف-سر)اسم- واحد- مذکر- دَ ووټونو دَ انتظام کولو ذمه دار عهده دار- (م- انګرېزي)-

پولنګ سټېشن:(پو-لنګ-سټې-شن)اسم- واحد- مذکر- دَ ووټونو اچولو ځای-

پولو:(پو-لو)اسم- واحد- مذکر- چوګان- د يوې لوبې نوم چې په اسونو سوارهٔ لوبغاري يې په يو خاص قسم لرګيو او غنډسکي کوي-

پولول:(پو-ل-ول)مصدر متعدي- بخښل- بخشش کول- ورکول- په بخښنه ورکول-

پولولے:(پو-لو-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پولولي- مؤنث پولولې- وګورئ پولول-

پولون:(پو-لو-ون)حاصل مصدر- وګورئ پولول-

پولونکے:(پو-لو-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پولونکي- مؤنث پولونکي- وګورئ پولول-

پولونګ:(پو-لو-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پولول-

پولونه:(پو-لو-ونه)حاصل مصدر- وګورئ پولول-

پوله:(پو-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پولی- (م- هندي پهلا)-

پوله:(پو-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)حد بندي- بريد- بند- څېره- ټک- سرحد- (۲)د پټي موږه-

پوله:(پو-له)اسم صفت- نرم- پوست-

پوله:(پو-له)اسم- واحد- مؤنث- دَ سترګې پرده- جاله- دَ سترګې ګل- د سترګې اوره- (م- هندي)-

پوله پېنې:(پو-له-پېنې)اسم صفت- پېنې ابله- پسې پله- هغه څوک چې پېزار ی په پښو کښې نه وي-

پولين:(پو-لين)اسم- واحد جمع- مذکر- وګورئ پولس-

پولي پولي:(پو-لي-پو-لي)اسم صفت- ټک ټک- بريد بريد- هغه زمکه چې ځاي په ځاي پولې پکښې جوړې شوې وي-

پولېب:(پو-لېب)اسم- واحد- مذکر- سنخ- پرسېدلے ځاي- (افغانستان)-

پولي:(پو-لي)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)وَږ وابشه- (۲)بوساړه- (۲)ګېډۍ- دَ وېشتې کوده- (۴)د زمانان د منځې سره وتلې وېښته- (وروميې معنیٰ کښې م- هندي)-

پولي:(پو-لي)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)د شولو يا جوارو دانه چې په بټ کښې وريته شي- (۲)تناکه-

پولي پولي:(پو-لي-پو-لي)اسم (مرکب)- تناکې تناکې- په وريتېدلو

www.pukhto.net

پرسېدنه او پرک پرک چاودنه۔

پولے:(پو-لے)اسم- واحد- مذکر- (۱)کهوړه ودونکے- جولا- پاولے- (۲)پاولی- دَ ښځو دَ سينګار هغه پسول چې پهٔ ګاليو باندي تک وهلے شي-

پولے:(پو-لے)اسم- واحد- مذکر- ځلورڅير- دَ روپۍ ځلورمه حصه- پاؤ-

پولے ځپولے:(پو-لے-ځ-پو-لے)اسم- مذکر- نامته توپۍ- د ماشومانو يوه لوبه چې پهٔ دائره کښې کښېني او وار پهٔ وار دَ يو بل شا ته ځادر يا توپۍ پږدی-

پومبه:(پوم-به)اسم- واحد- مؤنث- کربوسکه- کربسکه- يو بوټے او د هغې ګل چې تري کپړه جوړيږی- نباتاتي نرم (دَ) ګاسپ يم (دَ خاندان يو بوټے)-

پومه:(پو-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مرض- (۲)پم- د ښاريت مرض-

پون:(پون)اسم- واحد- مذکر- پان-

پون:(پون)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پوپ- جمع پونونه-

پون:(پون)اسم- واحد- مذکر- پومه- ښارښت- خارش- پم-

پومبری:(پوم-بري)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)سپک څيز- وړوکے څيز- (۲)دَ پومبې پهٔ شان هغه سپک څيز چې دَ بوټو وبخ پورې نښتے وی- (افغانستان)-

پونچه:(پون-چه)اسم- واحد- مؤنث- پونځه- اخېړه- خاړه-

پونچی:(پون-چي)اسم- واحد/جمع- مونث- پوچی- دَ لوخي، منجو وغيره جاړو چې چونه پرې ورکولے شي- کوچی- پوچی-

پونچی:(پون-چي)اسم- واحد جمع- مؤنث- دَ سپينو زرو غټې چې زنانه يې پهٔ مزی کښې ورېی او بيا يې دَ کالی پهٔ بړول لاس کښې اچوی-

پوندانه:(پون-دا-نه)اسم- واحد- مؤنث- دَ پومبې تخم- پومبه دانه- چکت- وګورئ پومبه-

پوندړے:(پوند-ړے)اسم- واحد- مذکر- ختړے- ختو ځيزونو سره لګولے شوے د تارونو يا وړی وغيره خنګندوکے ګل- جمع پوندړی- (هـ- هندی پهندنا)-

پوندغلے:(پوند-ه-غ-لے)اسم- واحد- مذکر- هغه تړوته خرمن چې پهٔ ګېلو کښې د پوندی خوا ته اچولے کيږی- د ځېلی يا پېزار پونده- پهکے-

پوندګلی:(پ-وند-ګ-لي)اسم- مؤنث- (۱)پونده توب- خانه بدوشی- (۲)دَ کوچيانو ژوند- مال څرونه- غونه توب- کوجر توب-

پونده:(پ-ون-ده)اسم- واحد- مذکر- پاونده- کوجر- کوچے- د افغانستان دَ سيمې هغه پښتانهٔ چې پهٔ ژمی کښې به د قافلو پهٔ شکل کښې لاندي ميداني علاقي ته راکوزيدل او اوری کښې به يې پهاس غرنيزې علاقې ته کډې کولي-

پونده:(پون-ده)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ پښې وروستی حصه چې غوښه يې سخته وی- (۲)هغه حصه چې دَ پښې دَ پوندي لاندې وی- (۲)دَ تُوري موتي-

پونډ:(پونډ)اسم- واحد- مذکر- پوڼ- يو قسم اتش ګيره ماده چې دَ مالوچو او د ختې ونو پاڼو او پوستکو نه به جوړولے شوه- خپه- پنهـ- درګير- خو- خفو- خپه- درګيران- پوے-

پونډ:(پونډ)اسم- واحد- مذکر- پوڼ- دَ برطانيې دَ شلو شلنګونو لرونکې يوه طلائي سکه او نوټ- جمع پونډونه-

پونډکه:(پون-ډ-که)اسم- واحد- مؤنث- ساګ- سابهٔ- سبزی- پهٔ اور پخه شوی ښکه-

پونډه:(پون-ډه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پنډبکر- بکوره- (۲)خو- خفو- درګير- درګيران-

پونډی:(پون-ډی)اسم- واحد- مؤنث- دَ پنډی پسته غوښه-

پونسو:(پون-سو)اسم- پينځهٔ سوه-

پونصو:(پون-صو)اسم- پوسو- پينځهٔ سوه-

پونکے:(پون-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ ماشومانو دَ لوبو شپېلے- (۲)دَ کاغذ نه جوړه يا دَ دروزی نچه- پونکے- جمع پونکی-

پونګ:(پونګ)اسم- واحد/جمع- مذکر- (۱)اولاد- پښ- پښت- پيداوښ- (۲)دَ ملخانو بچ- (۲- اسم صوت)دَ پس، پړک وغيره دَ مارن اواز-

پونګ:(پونګ)اسم صوت- (۱)ټبک- پنک- دَ تيز اواز- (۲)دَ ژړا اواز- پړينګ-

پونګړکه:(پونګ-ړ-که)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پوکانه-

پونګه:(پونګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)سرمايه- پنګه- پانګه- موړی- (۲)اولاد- نسل- (افغانستان)-

پونګی:(پونګ-ګي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)توليـ- درمه- دَ سُرنا هغه نوټتی چې ژبه پرې کېښولے شي- (۲)شپېلی- (۲)غرهٔ کښې هوار ځایُ- دَ غرهٔ پهٔ سر هوار ځایُ- (۴)دَ تجارت سامان- دَ سوداګری مال-

پونګے:(پونګ-ګے)اسم صوت- تيز- دَ ماشومانو باد- ټړ- پونګ-

پونګے:(پونګ-ګے)اسم- واحد- مذکر- نچه- نڅچه- کړکے- درمه- هغه دروزه يا راغښو کړے کاغذ چې چرسيان دَ چرسو لوګے پرې څښی-

پونول:(پو-نه-ول)مصدر متعدی- لېلامول- دَ څيز اصل قيمت نه پهٔ ارزانه بيعه خرڅول- نيلامول

پونولے:(پو-نه-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پونولي- مؤنث پونولې- وګورئ پونول-

پونون:(پو-نه-ون)حاصل مصدر- وګورئ پونون-

پونونکے:(پو-نه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پونونکي- مؤنث پونونکې- وګورئ پونون-

پونونګ:(پو-نه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پونون-

پونونه:(پو-نه-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ پونون-

پونه (پو-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)نرے باران- ږورمک- پشمک- شبنم- (۲)ابهٔ خور- (افغانستان)-

پونی:(پو-نی)اسم- واحد- مؤنث- پړو وهنه- پوړ وهنه-

www.pukhto.net

پونی:(پو-نی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ چنی-
پونے:(پو-نے)اسم- واحد- مذکر- پمنکے- پمنے- پماتے- یو تریخ خوند لرونکې غرنیزه سبزی- وګورئ پماټی- جمع پونی-
پون:(پون)اسم- واحد- مذکر- پونو- پنو- د پخوانی زمانې یو قسم د اور لګولو پند بکړ-
پون:(پون)اسم صفت- (۱)کوک- پوپ- چې مینځ ئې خالی وی- (۲)پهان- پهتو- (۳)د سیند یا خوړ پوې خوا ته د خاورو لمن یا ګنډه-
پوناقه:(پو-نا-قه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پوناکه- تناکه- پولی- (۲)د سوزیدو نه پس را ختلې پولی-
پوناکه:(پو-نا-که)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پوناقه-
پونکه:(پو-ن-که)اسم- واحد- مؤنث- حباب- خوږیه- پرپوکی- پوبکے-
پونکے:(پون-کے)اسم- واحد- مذکر- شپیلے- شپیلک- شورشوری- د ریل ګاړی چغه- کریکه- سیټی-
پونکے:(پون-کے)اسم- واحد- مذکر- پونکے- پونګی- ټونا- سرنا- بکر- جمع پونکی-
پونل:(پو-نل)مصدر- مستی کول- د مستی نه لتې وهل- پونیدل- په مووی پښې تکول-
پونلے:(پو-نه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پونلی- مؤنث پونلې- وګورئ پونل-
پونته:(پو-نه-نه)حاصل مصدر- وګورئ پونل-
پونول:(پو-ن-ول)مصدر متعدی- (۱)د څه څیز منځ خالی کول- کوکول- پوول- (۲)څوک تنکول- په پېرو خبرو څوک تنکول-
پونولے:(پو-ن-وه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پونولی- مؤنث پونولې- وګورئ پونول-
پونون:(پو-ن-ون)حاصل مصدر- وګورئ پونول-
پونونکے:(پو-ن-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پونونکی- مؤنث پونونکې- وګورئ پونول-
پونونکے:(پو-نون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پونونکی- مؤنث پونونکې- وګورئ پونل-
پونونګ:(پو-ن-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پونول-
پونونه:(پو-ن-وه-نه)حاصل مصدر- وګورئ پونول-
پونه:(پو-نه)اسم صفت- د اس مخصوص قدم- د اس تګ-
پونیا:(پون-یا)اسم- بد رد- سپکاوے- (کول مصدر)-
پونیدل:(پو-نی-دل)مصدر لازم- (۱)پپیدل- خالی کیدل- (۲)د اس په مووی پښې تکول- خرمستی کول- (۳)په پېرو خبرو اورپدلو تنګیدل-
پونیدلے:(پو-نی-ده-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پونیدلی- مؤنث پونیدلې- وګورئ پونیدل-
پونیدن:(پو-نی-دن)حاصل مصدر- وګورئ پونیدل-
پونیدنګ:(پو-نی-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ پونیدل-
پونیدنه:(پو-نی-ده-نه)حاصل مصدر- وګورئ پونیدل-
پونیدونکے:(پو-نی-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پونیدونکی- مؤنث پونیدونکې- وګورئ پونیدل-
پونیده:(پو-نی-ده)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ پونیدل-
پونی:(پو-نی)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ پوړی-
پونی:(پو-نی)اسم- واحد جمع- مؤنث- پوڅی- لپکی- لکی- د وړیو هغه ګنجی چې د وریښلو د پاره په لاس باندې راتاو شوی وی-
پونی:(پو-نی)اسم- واحد جمع- مؤنث- پاکټ- ککوړی- خلته- لفافه-
پوے:(پو-نے)اسم- مذکر- وګورئ پم-
پوو:(پوو)کلمه- د حیرت کلمه- آخ-
پوو:(پ-وو)اسم- پوونه- ځرونه- پیالته-
پووار:(پو-وار)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ پوار- (م- هندی)-
پووړه:(پو-وړه)اسم صفت- پومړه- پواړه- هغه ښځه چې سوتره کار نه کوی-
پوول:(پو-ول)مصدر- ځړول- پیایل-
پوولے:(پو-وه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پوولی- مؤنث پوولې- وګورئ پوول-
پوون:(پو-ون)حاصل مصدر- وګورئ پوول-
پوونده:(پو-ون-ده)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پاونده-
پوونکے:(پو-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پوونکی- مؤنث پوونکې- وګورئ پوول-
پوونګ:(پو-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پوول-
پوونه:(پو-وه-نه)حاصل مصدر- وګورئ پوول-
پوونے:(پو-وو-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پوونی- مؤنث پوونې- وګورئ پوول-
پوه:(پوه)اسم صفت- پوهه- پوئ- هوښیار- د پوهې خاوند-
پوه:(پوه)اسم صفت- پوهه لرونکے- عالم- خبردار- جمع پوهان-
پوه:(پوه/پو)اسم- واحد- مؤنث- د نصلی کال نهمه میاشت چې په ژمی کښې د مکر نه پس او د ما نه مخکښې راځی (د دسمبر ۱۵ نه د جنوری ۱۲ پورې)- (م- هندی)-
پوه:(پ-وه)اسم صفت- زیمناکه زمکه- اوته- وتره زمکه- نمناکه زمکه-
پوها:(پو-ها)کلمهٔ تعجب- پوهو- د حیرانتیا په وخت ویونکې کلمه-
پوهار:(پو-هار)اسم صفت- پوار-
پوهاره:(پو-ها-ره)اسم صفت- واحد- مؤنث- د پوهار مؤنث- پواړه ښځه- وګورئ پووړه-
پوهان:(پو-هان)اسم- واحد/جمع- مذکر- (۱)د پوه جمع- (۲)لوئ استاد- پروفیسر- پوهاند- (افغانستان)-

کړ (ځی-رل)، ئ (مې-ره-ول)، ئ (میا-لی)، ې (تن-دې) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

پوماند:(پو-ماند)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پوهان (پروفېسر)-

پوماند والے:(پو-ماند-والے)اسم- د "پوماند" کېدو حالت او رتبه- (افغانستان)-

پوهر:(پو-هر)اسم صفت- پوار-

پوهره:(پو-هَ-ره)اسم صفت- پواړه- پوره-

پوهرتوب:(پو-هر-توب)اسم- دٔ پوهر کېدو حالت- وګورئ پوهر-

پوهلنډے:(پوه-لن-ډے)اسم صفت- واحد- مذکر- کم عقل- لنډاکے- جمع پوهلنډي- مؤنث پوهلنډې- (افغانستان)-

پوهمن:(پوه-من)اسم صفت- واحد- مذکر- هوښيار- پوه- دانا- (افغانستان)-

پوهنتون:(پو-هن-تون)اسم- واحد- مذکر- يونيورسټي- جامعه- (افغانستان)-

پوهنځاے:(پو-هن-ځاے)اسم- واحد- مذکر- دٔ يونيورسټۍ فيکلټي- شعبه- فاکولته- (افغانستان)-

پوهند:(پو-هند)اسم صفت- هوښيار- پوه- (افغانستان)-

پوهندوئے:(پو-هن-دو-ئے)اسم- واحد- مذکر- لهٔ پوهنمل نه وچته علمي رتبه- (افغانستان)-

پوهنده:(پو-هَن-ده)اسم صفت- مؤنث- دٔ پوهند مؤنث- وګورئ پوهند- (افغانستان)-

پوهنمل:(پو-هن-مل)اسم- واحد- مذکر- د پوهنيار نه وچته درجه- د کامل د پوهنتون دريمه درجه- (افغانستان)-

پوهنه:(پو-هَ-نه)اسم- علم- پوهه- پويه- هوښيارتيا- هوښيارتوب- (افغانستان)-

پوهنيار:(پو-هَن-يار)اسم- واحد- مذکر- د پوهنمل نه ښکته علمي رتبه- (افغانستان)-

پوهو:(پو-هو)کلمهٔ تعجب- وګورئ پوها-

پوهوتلے:(پوه-و-تَه-لے)اسم- مفهوم- مطلب- (افغانستان)-

پوهول:(پو-هه-ول)مصدر متعدي- علم ورکول- مطلب ته رسول- لار ښوول-

پوهولے:(پو-هه-وَه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پوهولي- مؤنث پوهولې- وګورئ پوهول-

پوهون:(پو-هه-ون)حاصل مصدر- وګورئ پوهول-

پوهونکے:(پو-هه-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پوهونکي- مؤنث پوهونکې- وګورئ پوهول-

پوهونګ:(پو-هه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پوهول-

پوهونه:(پو-هه-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ پوهول-

پوهوهو:(پو-هو-هو)کلمه- د ډېرې حيرانتيا کلمه- پوهو- پها- پيې-

پوهه:(پو-هه)اسم- واحد- مؤنث- علم- هوښيارتيا- جمع پوهې-

پوهه ناک:(پو-هه-ناک)اسم صفت- مذکر- هوښيار- پوهېدونکے- پويه درونکے-

پوهېدل:(پو-هې-دل)مصدر لازم- علم موندل- خبر موندل- مطلب ته رسېدل-

پوهېدلے:(پو-هې-دَه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پوهېدلي- مؤنث پوهېدلې- وګورئ پوهېدل-

پوهېدن:(پو-هې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ پوهېدل-

پوهېدنګ:(پو-هې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ پوهېدل-

پوهېدنه:(پو-هې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ پوهېدل-

پوهېدونکے:(پو-هې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پوهېدونکي- مؤنث پوهېدونکې- وګورئ پوهېدل-

پوهېدۀ:(پو-هې-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري دٔ واحد غائب صيغه- وګورئ پوهېدل-

پوهيالے:(پوه-يا-لے)اسم صفت- عقلمند- هوښيار- جمع پوهيالي- مؤنث پوهيالې-

پوئ:(پوئ)اسم صفت- دٔ پوه عاميانه غلط قرأت-

پويول:(پو-يه-ول)مصدر متعدي- دٔ پوهول عاميانه غلط قرأت-

پويولے:(پو-يه-وَه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پويولي- مؤنث پويولې- وګورئ پوهولے- عاميانه او غلط قرأت-

پويون:(پو-يه-ون)حاصل مصدر- عاميانه غلط قرأت- وګورئ پوهون-

پويونکے:(پو-يه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پويونکي- مؤنث پويونکې- وګورئ پوهونکے- عاميانه غلط قرأت-

پويونګ:(پو-يه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ پوهونګ- عاميانه غلط قرأت-

پويونه:(پو-يه-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ پوهونه- عاميانه غلط قرأت-

پويه:(پو-يه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)منډه- (۲)دٔ اس يو مخصوص چال-

پويه:(پو-يه)اسم صفت- واحد- مؤنث- پوهه-

پويه پويه:(پو-يه-پو-يه)اسم (مرکب)- پهٔ تېوس تېوس- پهٔ ډېر خيال او فکر-

پويېدل:(پو-يې-دَل)مصدر لازم- پوهېدل- عاميانه او غلط قرأت-

پويېدلے:(پو-يې-دَه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع پويېدلي- مؤنث پويېدلې- وګورئ پوهېدلے- عاميانه او غلط قرأت-

پويېدن:(پو-يې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ پوهېدن- عاميانه او غلط قرأت-

پويېدنګ:(پو-يې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ پوهېدنګ- عاميانه او غلط قرأت-

پويېدونکے:(پو-يې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پويېدونکي- مؤنث پويېدونکې- وګورئ پوهېدونکے- عاميانه او غلط قرأت-

پويېدۀ:(پو-يې-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ پوهېدۀ- عاميانه او غلط قرأت-

پۀ:(پۀ)کلمه- پوه پوه- (د اظهار نفرت کلمه)-

پۀ:(پۀ)حرف جار- (۱)د پاسه- باندې- د پاره- (۲)حرف قسم- (۳)د حالت د ښوولو کلمه لکه پهٔ خندا، پهٔ ګډا، پهٔ تللو، پهٔ شروع، پهٔ آخر وغيره- (۴)د متعلق فعل عام علامت-

www.pukhto.net

پهٔ اخے:(پهٔ-ا-خے)اسم صفت- کنجے- سوبر- لنډه- چترے-

پهٔ تکی:(پهٔ-تهٔ-کی)متعلق فعل- (۱)پهٔ پز- فوراً- سمدستي- یو دم- بې تاخیره- بې تامله- د سترګو پهٔ رپ کښې- (۲)بیخی- بالکل- پهٔ هغه درنګ-

پهٔ پز:(پهٔ-پز)فعل (مرکب)- بې دریغه- بې ویرې- بې خوفه- چې پهٔ کولو کښې ئې هیڅ سرفه ونهٔ کړے شی-

پهار:(پ-هار)اسم- واحد- مذکر- پار- پهر- د ورځې یا شپې څلورمه حصه- پهارونه- دٔ شوارور اتمه حصه- دری ګینټې- جمع پهارونه-

پهاری:(پ-ها-ری)اسم- واحد جمع- مؤنث- یو قسم هوسی-

پهاړه:(پ-ها-ړه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پهاړه (دٔ ضرب ګردانونه)- (م- هندی-)

پهر:(پ-هر)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پهار-

پهرو دار:(په-رو-دار)اسم صفت- وګورئ پهره دار- (متروک)-

پهرو داری:(په-رو-دا-ری)اسم- وګورئ پهره داری- (متروک)-

پهره:(په-ره)اسم- وګورئ پهار-

پهره:(په-ره)اسم- واحد- مؤنث- پېره- څوکی- څوکیداری- ساتنه- حفاظت- جمع پهری-

پهره دار:(په-ره-دار)اسم صفت- پهره ورکوونکے- محافظ- څوکیدار- پېره دار- څارونکے-

پهره داری:(په-ره-دا-ری)اسم- واحد- مؤنث- د پهری ورکولو حالت- څوکیداری- پېره داری- نګرانی-

پهږ:(په-هږ)اسم صفت- سرزورے اس- پهٔ کېږه کښې نهٔ ګرځېدونکے اس- خشک اس-

پهړه:(په-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پهوړه- پهوړی- د جوګیانو لنډه امساء (۲)دٔ ملنګانو دٔ غاړې امیل-

پهلواری:(پهل-وا-ری)اسم- واحد- مؤنث- پلواری- پلواړی- یو مېین ګل-

پهلوان:(پهل-وان)اسم صفت- پالوان- طاقتور- تکړه- مضبوط- زورور- جمع پهلوانان- مؤنث پهلوانه- جمع مؤنث پهلوانې-

پهلوانی:(پهل-وا-نی)اسم- د پهلوان جوړېدو حالت- وګورئ پالوانی-

پهم:(پ-هم)اسم- واحد- مذکر- پام- پانګ- خیال- فکر-

پهن تر:(پ-هن-تر)اسم صفت- زیات پلن- زیات ارت- (م- فارسی)-

پهن سرین:(پ-هن-سر-ین)اسم صفت- پلن کناټی لرونکے- (م- فارسی)-

پهوړه:(پ-هو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- د جوګیانو امساء پهړه- پهوړی- جمع پهوړی-

پهوړه:(پ-هو-ړه)اسم صفت- واحد- مؤنث- پواړه- خیرنه- خچنه- ناولې-

پهوړی:(په-هو-ړی)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ پهوړه ۲-

پهول:(په-مول)مصدر متعدی- د پومول عامیانه قرأت-

پهونکے:(په-مه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع پهونکی- مؤنث پهونکې- زګورئ پوهونکے-

پهونه:(پهٔ-هه-وهٔ-نه)حاصل مصدر- زګورئ پوهونه-

پیه:(پ-یه)اسم- واحد- مؤنث- په- پاعه- ترمه- پتی-

پی:(پی)اسم- جمع- مذکر- (۱)أنف (۲)شورف-

پیا:(پ-یا)اسم- واحد- مؤنث- پایه- پیه- (م- هندی- پهیه)-

پیاپے:(پ-یا-پے)متعلق فعل- مسلسل- پهٔ یو مخ- پرله پسې- مکرر- (م- فارسی)-

پیانی:(پیا-نی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پېتی-

پیاخه:(پیا-خه)اسم- واحد- مؤنث- د باجری یا د جوارو رزېی-

پیاخړه:(پیاخ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- پیاځله- پیالحه- یو قسم کشیده-

پیاځله:(پیاخ-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پیاخړه-

پیاځله:(پیاخ-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ګلوبند- (۲)خوله راوستنه- (۳)دٔ قمیص دٔ غاړې مغزې- هغه توټه چې دٔ قمیص غاړې او دٔ لستوڼو دٔ کیوبو پهٔ منځ کښې ایښودل شوی وی-

پیاد:(پیاد)اسم- یاد- حفظ-

پیاده:(پیا-ده)اسم صفت- (۱)پهٔ خپلو پښو- (۲)دٔ ختو محکمو چپراسی- دٔ محکمهٔ مال چپراسی-

پیارژندی:(پیار-ژن-دی)اسم- واحد- مؤنث- د شپې أبهٔ خور- دٔ شپې د پیبو خورسومه-

پیارغنده:(پیار-غن-ده)اسم- واحد- مؤنث- لهٔ تمبو چارچاپېره دٔ باران د أبو د بندېږ د پاره جوړه شوی پوله- جمع پیارغندی-

پیارمه:(پیار-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)چېره- څېره- ریتاړه- لتوره- رنجه- خرخوړے- (۲)چنیا-

پیارمه:(پیار-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کبنه- لنګه- د کټ لنګه- (۲)دم چی-

پیارمه خور:(پیار-مه-خور)اسم صفت- (۱)هغه څاروے چې پیارمه خوری- (۲)دٔ بل ګټه خوړونکے- (۳)حامی څېری کوکے-

پیاز:(پیاز)اسم- واحد جمع- مذکر- د عام استعمال یوه بوټی داره سبزی چې د یخمدو نه پس د پهٔری رنګ غټر کښې سله شی- نباتاتی نوم ایلیم سیپاء (ش- هندی)-

پیازکے:(پیا-زه-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)د پیاز پهٔ رنګ یو راسهٔ (۲)ورکی- نباتاتی نوم:رحسا اندیکا ERGNEA INDICA-

پیازه:(پیا-زه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)سپیازه- زیان- سره کېدنه- هغه بخه یا ماده خناور چې د وخت نه مخکښې بچے وغورځوی- (۲- صفت)ضائع- عبث- (۳)دٔ یو داسې څیز شکاره کېدنه چې دانسته پټ ساتلے شوے وی-

پیازی:(پیا-زی)صفت- د پوخ پیاز پهٔ شان نرے سوربخن رنګ او دغه رنګ لرونکے څیز-

پیاسه:(پیا-سه)اسم- واحد- مؤنث- د تورو مچو هغه ګبس چې شهد پکښې نه وی- ویے- خالی ګګ-

ځ¹ (څې-ول)، ځ² (څې-ره-ول)، ځ³ (پیا-لی)، ځ⁴ (تن-وې) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

پیاسہ (پیا-سه) اسم- واحد- مؤنث- پیاشه- خوړ- لګو- د سلاب لاره- جمع پیاسې-

پیاشه (پیا-شه) اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پیاسه-

پیاغله (پیاغ-له) اسم- واحد- مؤنث- پیاخله- خوله راوستنه- ناروغ خولي کونه- (افغانستان)-

پیاګی (پیا-ګی) اسم- سهیني- وانبه- دُ پوندو نه بره او دُ پنډی نه ښکته دُ پښو شا ته نرمه او پسته غوښه- پړکو-

پیاګی (پیا-ګي) متعلق فعل- وروستو- شا ته- پسې- (افغانستان)-

پیالخه (پیال-خه) اسم- واحد- مؤنث- (۱) دُ تبی لاندینے ارخ- (۲) هغه ځائ چې تبی پکښې ښخولے شي-

پیاله (پیا-له) اسم- واحد- مؤنث- (۱) دُ ښکلو وروکے لوښے- (۲) دُ شرابو ښکلو پیمانه- جمع پیالې- (ش- فارسي، هندي)-

پیالی (پیا-لی) اسم- واحد/جمع- مؤنث- پیاله- دُ ښکلو لوښے- (ش- هندي، فارسي)-

پیام (پـیـام) اسم- واحد- مذکر- سوال ځواب- ځواب- پیغام- خبر- جمع پیامونه- (م- فارسي)-

پیانده (پـیان-ده) اسم- واحد- مؤنث- (۱) سلسله- ورد مزے- کړی- (۲) ورده قصه- جمع پیاندې-

پیانګه (پیانګ-ګه) اسم- واحد- مؤنث- دُ دېوال دُ ګړی اوبزانده پُرزه چې هر سېکنډ یو خوا او بل خوا حرکت کوی- پنډولم- هغه پُرزه چې اوبزانده وی او اُخوا دېخوا خوځي راخوځي- پېنډولم- جمع پیانګې-

پیانو (پیا-نو) اسم- واحد- مؤنث- یوه لویه انګریزی باجه چې په دواړه لاسه غږیږي- (م- انګریزی)-

پیاورکے (پیا-ور-کے) اسم- واحد- مذکر- ښېلمي- نباتاتي نوم کلوتېرو پس حاي کینتي-

پیاوړ (پیا-وړ) اسم- واحد- مذکر- برهر- زخم- برار- جمع پیاوړونه-

پیاوړتوب (پیا-وړ-توب) اسم- تکړه توب- قوت- طاقت- زور- پیاوړتیا-

پیاوړتیا (پیا-وړ-تیا) اسم- وګورئ پیاوړتوب-

پیاوړه (پیا-وړ-ړه) اسم صفت- پیوړه- پړ ورکونکې- پیوړه

پیاوړے (پیا-وړ-ړے) اسم صفت- واحد- مذکر- زورور- تکړه- قوی- طاقتور- بهادر- بادر- جمع پیاوړی-

پیاوبه (پیاو-به) اسم- واحد- مؤنث- پیاړمه- لنګه- کبته- کوزسر-

پیاوه (پیا-وه) اسم- یو چینجے چې کهړی خوری- جمع پیاوې-

تريخ ژن:(تريخ-ژن)اسم صفت- (۱)تريخ بخن- لږ شان تريخ خوند لرونکے- (۲)غصه ناک- قهرژن- خشکي- مؤنث تريخ ژنه- جمع مؤنث تريخ ژنې-

تريخ درياب:(تريخ-در-ياب)اسم- کالي درياب- کاړي درياب- قاړي درياب- سمندر-

تريخ لوړے:(تريخ-لو-ړے)اسم صفت- لږ شان تريخ خوند لرونکے-

تريخ لوکے:(تريخ-لو-کے)اسم- وګورئ حرېسکه-

تريخوالے:(تريخ-وا-لے)اسم- وګورئ تريخ توب-

تريخ وروخے:(تريخ-ورو-خے)اسم صفت- ترش رېو- تريو مخ- بد دماغه- چې تندے ئې تريخ نيولے وي-

تريخول:(تري-خه-ول)مصدر متعدي- ترخول- تريخ کول- په يو څيز يا يوه خيره کښې تريخ والے پيدا کول-

تريخون:(تري-خه-ون)حاصل مصدر- وګورئ تريخول-

تريخونکے:(تري-خه-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تريخونکي- مؤنث تريخونکې- وګورئ تريخول-

تريخونګ:(تري-خه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تريخول-

تريخونه:(تري-خه-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ تريخول-

تريخېدل:(تري-خې-دل)مصدر لازم- (۱)ترخېدل- تريخ کېدل- خوند خرابېدل- (۲)غصه کېدل- خشکي کېدل- قهرژن کېدل-

تريخېدن:(تري-خې-دن)حاصل مصدر- وګورئ تريخېدل-

تريخېدنګ:(تري-خې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تريخېدل-

تريخېدنه:(تري-خې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ تريخېدل-

تريخېدونکے:(تري-خې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تريخېدونکي- مؤنث تريخېدونکې- وګورئ تريخېدل-

تريخېدهٔ:(تري-خې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ تريخېدل-

تريخے:(تري-خے)اسم- واحد- مذکر- (۱)زهره- زاره- دَ انسان او حېوان په ګېډه کښې دننه يو اندام- (۲)ننګ- غېرت- جمع تريخي-

تريز:(تريز)اسم- واحد- مذکر- کاسنې- شمکے- يو قسم واښه- نباتاتي نوم رومينا او فی سين-

تريوه:(تري-وه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)روغاسې- روغني کلچه- خوږ ککوړے- په تناره پخه هغه غوره پوړۍ چې په اوړو کښې ئې غوړي اخښلي وي- (۲)پاستے- څپېټے- کاله- نېکي- ښکړ-

زور (ح-مبفـ-ره)، وورکيے (شل)، پېښ (تو-کاسره)، زېر (ل-ماب)، جرم (سکون) ه (و-ره)، ۀ (و-سي-دهٔ)

www.pukhto.net

تریل:(تـ-رَ-یِل/تره-یل)مصدر- کورارول- اچول-
تریلے:(تَرهَ-یَهْ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تریلی- مؤنث تریلې- وګورئ تریل-
ترین:(تَره-یَن)حاصل مصدر- وګورئ تریل-
تریناک:(ت-ری-ناک)اسم صفت- (۱)ترهند- تورند- تیورند- ترند- وحشي- (۲)زور باز- ساتلے باز- ښکاري باز- اموخته باز-
ترینାکه:(ت-ری-نا-که)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم مرغۍ-
تریندارہ:(ترین-دا-ره)اسم- واحد- مؤنث- دُ ترۀ ښخه- تندارہ- چاچې-
تریڼک:(تره-ینګ)حاصل مصدر- (۱)وګورئ تریل- (۲- اسم)غصه- تاؤ-
تریڼګړ:(تریڼک-ګړ)اسم- بجه- مانحه- باجه- دُ موسیقۍ دري ګېیره اله-
تریڼکړی:(تریڼک-ک-ړی)اسم- واحد جمع- مؤنث- تریڼکړی- تریڼکلي- چوټکی- پښکورے-
تریڼکل:(ترینګ-کل)مصدر- چوبل- (۱)تریوول- بوټېدل- (۲)راکښلے کېدل- غصه کېدل-
ترینګلي:(ترینګ-ک-لي)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ ترینګړی-
ترینګلے (ترینګ-کَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ترینګلي- مؤنث ترینګلې- وګورئ ترینګل-
ترینګلے:(ترینګ-کَ-لے)اسم صفت- (۱)تریو- تریو تندے- بد خویه- تریو مخے- دُ تریو تندی خاوند- بد مزاجه- بد خویه- خروس- (۲)بخیل-
ترینګن:(ترینګ-ګن)حاصل مصدر- وګورئ ترینګل-
ترینګنګ:(ترینګ-ګنګ)حاصل مصدر- وګورئ ترینګل-
ترینګنه:(ترینګ-ګ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ترینګل-
ترینګونکے:(ترینګ-ګون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ترینګونکي- مؤنث ترینګونکې- وګورئ ترینګل-
ترینګي:(ترینګ-ګي)اسم- نرے اواز- دُ نری اواز پمامه-
ترینګي:(ترینګ-ګي)اسم- واحد جمع- مؤنث- تېرۀ کاڼے چې مرغۍ پرې حلالېدے شي-
ترینګے:(ترینګ-کے)اسم- واحد- مذکر- کټه پیش- کرویش- پنه پیش- پیش پرانګ- ځنګلي پیشو-
ترینه:(تره-ینه)حاصل مصدر- وګورئ ترین-
تریو:(تریو)اسم صفت- (۱)تروش- ترش- تاک- (۲)غصه ناک- قهرېدلے-
تریوبخن:(تریو-بَ-خَن)اسم صفت- تریو غندي- تریو شاني- ترش شان خوند لرونکے-
تریوتریوکے:(تریو-تری-وَ-کے)اسم- تروروکے- ترووکے- تریو خوند لرونکے یو قسم ساګ-
تریوتوب:(تریو-توب)اسم- ترُشي- تریوتیا- تریووالے-
تریوتیا:(تریو-تیا)اسم- وګورئ تریوتوب-
تریوخورے:(تریو-خو-رے)اسم- مانی خُش- شکنجبین- یو قسم تریو غندی شربت چې د امو، سرکې او میسو نه جوړیږي- (افغانستان)-
تریوخوندے:(تریو-خون-دے)اسم صفت- تروش خوندے- تریوبخن- تپاک خوندے-
تریوړے:(تریو-ړے)اسم- واحد- مذکر- ښګوړے- ښکوړے- مادرنګ- بادرنګ- جمع تریوړي- ښاتاښی بوم کرکوس ئې وي-
تریوزن:(تریو-زَن)اسم صفت- تریو- ترش- لړ شان تریو خوند لرونکے-
تریوغلے:(تریو-غا-لے)اسم- واحد- مذکر- دُ سخو د قمیص د سینې جیب-
تریوکے:(تری-وَ-کے)اسم- واحد- مذکر- یو تریو خوند لرونکے ساګ تریوتریوکے-
تریو مخے:(تریو-مَ-خے)اسم صفت- وګورئ تریو تندے-
تریوناک:(تریو-ناک)اسم صفت- تروش خوندے- تریو خوندے تپاک خوندے- تواک خوندے-
تریونکے:(تره-یون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تریونکي- مؤنث تریونکې- وګورئ ترین-
تریونکولے:(تریو-نکو-لے)اسم- (۱)چټنۍ- اچار- (۲)هغه خواړۀ چې تریو خوند لري- (افغانستان)-
تریووالے:(تریو-وا-لے)اسم- وګورئ تریوتوب-
تریوورمه:(تریو-ور-مه)اسم- تریو شانې- لږ شان تریو- تریو خوندے- تریوناک- ترویدو ته نژدې- (افغانستان)-
تریوول:(تریو-وَ-ل)مصدر متعدي- تریو کول- تروش کول- مالګین کول- تروشول-
تریوون:(تریو-وَ-ون)حاصل مصدر- وګورئ تریوول-
تریوونکے:(تریو-وَ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تریوونکي- مؤنث تریوونکې- وګورئ تریون-
تریوونګ:(تریو-وَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تریوول-
تریوونه:(تریو-وَ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ تریوول-
تریوی:(تری-وی)اسم- واحد- مؤنث- یوه غرڅني ونه او د هغې ترووې داني-
تریوېدل:(تری-وې-دل)مصدر لازم- (۱)ترویېدل- ترشېدل- مالګین کېدل- (۲)خفه کېدل- قهرېدل-
تریوېدن:(تری-وې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ تریوېدل-
تریوېدنګ:(تری-وې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تریوېدل-
تریوېدنه:(تری-وې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ تریوېدل-
تریوېدونکے:(تری-وې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تریوېدونکي- مؤنث تریوېدونکې- وګورئ تریوېدل-
تریوېده:(تری-وې-ده)حاصل مصدر- وګورئ تریوېدل-
تریه:(تر-یه)اسم صوت- پړے- د کږو چېلو د شړلو اواز- پړیه-
تریې:(تری-یې)اسم- واحد- مؤنث- تری- پړنالے- ناوه-
تری:(تری)حرف- تری نه- خنې- له هغه ځخه-

www.pukhto.net

تربېته:(تري-ته)اسم- واحد- مؤنث- تروېته- بوجۍ- دُ غلي بوجۍ-

تربېدل:(تـري-دَل)مصدر لازم- ترهېدل- وېرېدل- پارېدل-

تربدل:(تـری-دَل)مصدر لازم- ټولېدل- ورو ورو تلل- (ش- پنجابي)-

تربېدلے:(تـري-دڅلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تربېدلي- مؤنث تربېدلې- وګورئ تربېدل-

ترپېدلے:(تـري-دڅلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ترپېدلي- مؤنث ترپېدلې- وګورئ ترپېدل-

ترپېدن:(تـري-دَن)حاصل مصدر- وګورئ ترپېدل-

تربېدن:(ت-ري-دن)حاصل مصدر- وګورئ تربېدل-

ترپېدنګ:(ت-ري-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ترپېدل-

ترپېدنګ:(تـري-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ ترپېدل-

ترپېدنه:(تـري-دڅنه)حاصل مصدر- وګورئ ترپېدل-

تربېدنه:(ت-ری-دڅنه)حاصل مصدر- وګورئ تربېدل-

تربېدونکے:(ت-ري-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تربېدونکي- مؤنث تربېدونکې- وګورئ تربېدل-

ترپېدونکے:(ت-ري-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ترپېدونکي- مؤنث ترپېدونکې- وګورئ ترپېدل-

ترپېدهٔ:(ت-ري-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ ترپېدل-

تربېدهٔ:(ت-ری-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ تربېدل-

ترپړ:(ت-رپړ)اسم- واحد- مذکر- توري- زوړ او بې کاره سامان-

ترپړه:(ت-ري-ړه)اسم- واحد- مؤنث- لړه- خوپ- بُخار- تُونده-

ترپړے:(تـري-ړے)اسم- واحد- مذکر- دَ اېږو تالاژ-

ترپل:(ترپل)اسم- واحد- مذکر- لوئ بند- وګورئ ترپړے-

ترپل:(ترپل)اسم- واحد- مذکر- پتلون- دَ چاپو دَ لوښو دَ وړلو راوړلو مجمه- تړې- (م- انګرېزي- تړے)-

ترپلے:(تـري-لے)اسم- واحد- مذکر- ترپل- حوض- بند- موړ- اوډ- وسته- خړېچ- جمع ترپلي-

ترې:(تـرې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- اخور- دَ مېچنې هغه ځائ چې اوړهٔ پکښې ټولېږي- (افغانستان)-

ترې:(تـرې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)ترم- ناوه- پرنالے- (۲)بېچومے-

ترې:(ترې)اسم متعلق فعل- (۱)خفيه- (۲)پهٔ پټه- پهٔ غلا- خُفيه-

ترې:(تـرې)اسم- واحد- مؤنث- دَ دوژ غړونو پهٔ منځ کښې يا لمن کښې تنګه شوې لاره- (افغانستان)-

ترې والے:(ترې-وا-لے)اسم- رمز- پټه-

ترے:(تـغـرے)اسم- اثر- نښه- نشانه-

ترے:(تـغـرے)اسم صوت- کچې- اري- دَ برې دَ شړلو اواز-

ترے تم:(تـرے-تم)صفت- ناڅاپه غائب- ناڅاپه ورک- ناساپه لهٔ سترګو پنا-

تړ:(تړ)اسم- (۱)شرط- (۲)غټه- غټه- ګټه- (۳)دَ اُبو بند- (۴)لوړه کټه- تړو- (۵)تجويز- قرارداد- (۱)اتفاق- تړون-

ترازه:(ت-را-زه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ترازو-

تراق:(تراق)اسم صوت- تراک- تړق- ترک- دَ څيز دَ ماتېدو اواز- دَ لرګي دَ ماتېدو يا ماتولو اواز-

تراق پراق:(تراق-پراق)اسم صوت- دَ ګوزار اواز-

تراقول:(تراق-ول)مصدر متعدي- پهٔ سخت څيز وهل- ترقول- پرق ورکول-

تراقون:(تراق-ون)حاصل مصدر- وګورئ تراقول-

تراقونګ:(تراق-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تراقول-

تراقونه:(تراق-ونه)حاصل مصدر- وګورئ تراقول-

تراقونکے:(تراق-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تراقونکي- مؤنث تراقونکې- وګورئ تراقول-

تراقي:(ت-را-قي)اسم- وګورئ تراقي-

تراقېدل:(تراقي-دل)مصدر لازم- پهٔ زوره وهلے کېدل- پرقېدل-

تراقېدن:(تراقي-دن)حاصل مصدر- وګورئ تراقېدل-

تراقېدنګ:(تراقي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تراقېدل-

تراقېدنه:(تراقي-دڅنه)حاصل مصدر- وګورئ تراقېدل-

تراقېدونکے:(تراقي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تراقېدونکي- مؤنث تراقېدونکې- وګورئ تراقېدل-

تراقېدهٔ:(تراقي-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ تراقېدل-

تراقي:(ت-را-قي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- تراکے- تراکې- تناکې- چونے- لکوټے- ترکے- وړوکے لښکه- تراقي-

تراګ:(ت-راګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)صف- قطار- (۲)خوا- پوړه- اړخ- جمع تراګونه-

تراګ:(تراګ)اسم صوت- ترک- تراق- ترق- دَ څهٔ څيز دَ ماتېدو اواز- دَ يو څيز دَ غړخېدو او لګېدو اواز- دَ څهٔ څيز دَ چولو اواز-

تراکۍ:(ت-را-کۍ)اسم- واحد- مؤنث- دَ چرچنې هومره يوه بنانسته مرغۍ-

تراکي:(ت-را-کي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ تراقي-

تراکے:(ت-را-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ تراقي-

ترانکه:(ترانک-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پولۍ- تناکه- (۲)بړبوکۍ- بړبوړۍ- جمع ترانکې-

ترانګه:(ترانګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- چيرړه- ريښه- دَ کهړې لويه ليتاړه- ريتاړه- (۲)دَ زمکې ووړه ټوکړه- ريښکۍ- جمع ترانګې-

ترانګي برانګي:(ترانګ-ګي-برانګ-ګي)اسم صفت- ټکرې ټکرې- ذرې ذرې- ټوټې ټوټې- ترانګې ترانګې- ليتاړې ليتاړې- ريښکې ريښکې- پړانګې پړانګې-

www pukhto net

ترانګې ترانګې:(تړانګ-ګې-تړانګ-ګې)اسم صفت- وګورئ ترانګې ترانګې-
تړاؤ:(تـړ-راؤ)اسم- واحد- مذکر- (۱)کړو- دَ جريب پېمانه کولو پړے- تناؤ- طناب- (۲)رابطه- تعلق- رشته- نسبت- جمع تړاؤګان-
تـړاوه:(تَ-ړا-وه)اسم- واحد- مؤنث- تـړون- رابـطـه- جـمـع تـړاوې- (افغانستان)-
تربوخه:(تړ-بو-خه)اسم- دوپ- خوپ- ترخه او بدبويه هوا- هغه هوا چې دَ کښې کوټې لهٔ کبله دوپ ژنه او بدبويه شي- ترېوخته- تربخته-
تړپ:(تـه-ړپ)اسم- مذکر- (۱)ناقراري- بې ارامي- (۲)تندي- تېزي- چلتي- تلوار- چابکي- (۳)بې صبري- (افغانستان)-
تړپ:(تړپ)اسم صوت- (۱)پهٔ زمکه د پلن څيز دَ راغورځېدو اواز- (۲- اسم)کېږه- شرق-
تړپا:(تړ-پا)اسم- (۱)ومنه- به ځېږو ومنه- (۲)وګورئ تړپهار- (اسم صوت)-
تړپار:(تړ-پار)اسم- (۱)ومنه- پهٔ ځېږو ومنه- (۲)وګورئ تړپهار- (اسم صوت)-
تړپول:(تړ-پ-ول)مصدر متعدي- (۱)تپول- تپولول- (۲)نـاقلاره کول- (۳)تپول- جوړول- (۴)وهل-
تړپولے:(تړ-پ-ولے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تړپولي- مؤنث تړپولې- وګورئ تړپول-
تړپون:(تړ-پ-ون)حاصل مصدر- وګورئ تړپول-
تړپونکے:(تړ-پ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تړپونکي- مونث تړپونکې- وګورئ تړپول-
تړپونګ:(تړ-پ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تړپول-
تړپونه:(تړ-پ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ تړپول-
تړپهار:(تړ-پ-هار)اسم- (۱)پهٔ ځېږو ومنه- تړپار- دَ اوبو دَ څلېدو اواز- (۲)پهٔ اوبو کښې د غورځېدو يا لاس پښو وهلو اواز- دَ تړپ تړوپ اواز اېستنه- (اسم صوت)-
تړپېدل:(تړ-پې-دل)مصدر لازم- (۱)تپېدل- (۲)بې ارامه کېدل- ناقلاره کېدل- (۳)پهٔ اوبو کښې د تړپ تړوپ اواز اېستلے کېدل- (۴)وهلے کېدل-
تړپېدلے:(تړ-پې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تړپېدلي- مؤنث تړپېدلې- وګورئ تړپېدل-
تړپېدن:(تړ-پې-دن)حاصل مصدر- وګورئ تړپېدل-
تړپېدنګ:(تړ-پې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تړپېدل-
تړپېدنه:(تړ-پې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ تړپېدل-
تړپېدونکے (تړ-پې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تړپېدونکي- مؤنث تړپېدونکې- وګورئ تړپېدل-
تړپېدهٔ:(تړ-پې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ تړپېدل-

ترترو:(تړ-ت-رو)اسم- مذکر- دَ مرې غټه- ګړګړو- کوړکوټو-
ترترې:(تر-ته-ړې-تر-ت-ړې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- د ترترې مؤنث- وګورئ ترترے-
ترترے:(تر-ته-ړے)اسم صفت- واحد- مذکر- ترړے- تتړے- چاړے- تړژبے- هغه څوک چې ژبه ئې نښلي- جمع ترترې- مؤنث ترترې-
ترتقه:(تر-ت-قه)اسم- واحد- مؤنث- ترتکه- د ناقراري او درد لهٔ کبله توپ- دَ حلال کړې ځاروي توپ- پړتکه- جمع ترتقې-
ترتک:(تر-تک)اسم- (۱)ناقراري- بې ارامي- (افغانستان)- (۲)دَ ناقراري او درد لهٔ کبله توپ- د حلال کړې مارغهٔ يا ځاروي توپ- پړتکه- ترتقه-
ترتکه:(تر-ت-که)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ترتقه-
تړژبے:(تړ-ژ-بے)اسم صفت- واحد- مذکر- ترترے- تړتړے- جمع تړژبي-
ترس:(ترس)اسم صوت- د لرګي يا نورو څيزونو د ماتېدو، غورځېدو يا پهٔ ځېږه د چا دَ وهلو اواز-
ترسا:(تر-سا)اسم صوت- (۱)د لرګي يا نورو څيزونو د ماتېدو پرله پسې اواز- (۲)ترکا- ترما- د ځېږو وهلو پرله پسې اواز-
ترسمار:(تَ-رس-مار)اسم- (۱)ترپسمار- پرله پسې اوازونه- دَ ټوپک دَ ګوليو اوازونه- (۲)ګرمي- سخته ګرمي-
ترق:(ترق)اسم صوت- (۱)ترک- پهٔ بټ کښې د ميوو د وريتېدو اواز- (۲)دَ لرګي دَ چاودلو اواز- (۳)د دوو څيزونو پهٔ خپل مينځ کښې دَ جنګېدو اواز- (۴)پړق-
ترقار:(تر-قار)اسم صوت- وګورئ ترقهار-
ترق پړق:(ترق-پړق)اسم- (۱)سمدستي چاودنه- (۲)سمدستي مرګ- (۳)ناڅاپه- (متعلق فعل)-
ترق تړوق:(ترق-تړوق)اسم- (۱)شور- ومنه ټکونه- (۲)دَ څهٔ څيز دَ ماتېدو اواز- (اسم صوت)-
ترقول:(تر-ق-ول)مصدر متعدي- پړقول- پهٔ بټ کښې نيني وريتول- پهٔ سکروټو وريتول-
ترقولے:(تر-ق-ولے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ترقولي- مؤنث ترقولې- وګورئ ترقول-
ترقون:(تر-ق-ون)حاصل مصدر- وګورئ ترقول-
ترقونکے:(تر-ق-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ترقونکي- مؤنث ترقونکې- وګورئ ترقول-
ترقونګ:(تر-ق-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ترقول-
ترقونه:(تر-ق-ونه)حاصل مصدر- وګورئ ترقول-
ترقهار:(تر-ق-هار)اسم صوت- (۱)ترقار- د ګوزار اواز- (۲)دَ پرزو اواز- ترپسمار-
ترقېدل:(تر-قې-دل)مصدر لازم- پهٔ بټ کښې دَ نينو وريتېدل- پهٔ سکروټو وريتېدل- (۲)تپېدل- تقېدل-

ږ (ښې-رل)، ي (مي-ره-ول)، ئ (يا-لي)، ے (تي-دي) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

ترقېدلے:(ترهقي-دهٔلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ترقېدلي- مؤنث ترقېدلې- وګورئ ترقېدل-

ترقېدن:(ترهقي-دن)حاصل مصدر- وګورئ ترقېدل-

ترقېدنګ:(ترهقي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ترقېدل-

ترقېدنه:(ترهقي-دهٔنه)حاصل مصدر- وګورئ ترقېدل-

ترقېدونکے:(ترهقي-دونکے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ترقېدونکي- مؤنث ترقېدونکې- وګورئ ترقېدل-

ترقېدهٔ:(ترهقي-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ ترقېدل-

ترک:(ترک)اسم صوت- وګورئ ترق-

ترک:(تَ-رک)اسم- واحد- مذکر- د مرکانو د نيولو لپاره- کوړکی- پنجره-

ترکا:(تره-کا)اسم صوت- (۱)ټکا- ترسا- ترکار- ترکهار- (۲)د دوو ځيزونو پخپلو کښې د جنګېدو پرله پسې اواز- (۳)د لاس د پړقولو اواز- (۴)د ټوپک د ګوليو پرله پسې اواز- (۵)د برق اواز-

ترکار:(تره-کار)اسم صوت- وګورئ ترکا-

ترکانے:(تره-کانے)اسم- واحد- مذکر- توري توري دانې لرونکے يو قسم بوټے او د هغهٔ دانې- جمع ترکاني- (افغانستان)-

ترک تروک:(ترک-تروک)اسم- وګورئ ترق تروق-

ترکن:(ترهٔ-کن)اسم صفت- مذکر- بربوک- بزدل- ترټن- تېرن- ورن- وېرېدونکے-

ترکول:(تره-کول)مصدر متعدی- وګورئ ترقول-

ترکون:(تره-کون)حاصل مصدر- وګورئ ترقون-

ترکونکے:(تره-کونکے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ترکونکي- مؤنث ترکونکې- وګورئ ترقون-

ترکونګ:(تره-کونګ)حاصل مصدر- وګورئ ترقون-

ترکونه:(تره-کونهٔنه)حاصل مصدر- وګورئ ترقون-

ترکه:(تره-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ټکه- پېره- تندر- (۲)د مردکيو ټيکانو لوبه- جمع ترکې-

ترکه:(تَ-ړ-که)اسم- واحد- مؤنث- دباړه- درکه- ګواښ- پورته پورته کېدنه- (افغانستان)-

ترکه:(تر-که)اسم- واحد- مؤنث- داغ- د سرو کړو غوړيو بکار- ترکه- (افغانستان)-

ترکهار:(تره-کهار)اسم صوت- وګورئ ترکا-

ترکېدل:(تره-کي-دل)مصدر لازم- وګورئ ترقېدل-

ترکېدن:(تره-کي-دن)حاصل مصدر- وګورئ ترقېدن-

ترکېدنګ:(تره-کي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ترقېدنګ-

ترکېدنه:(تره-کي-دهٔنه)حاصل مصدر- وګورئ ترقېدنه-

ترکېدونکے:(تره-کي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ترکېدونکي- مؤنث ترکېدونکې- وګورئ ترقېدونکے-

ترکېدونے:(تره-کي-دونے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ترکېدوني- مؤنث ترکېدونې- وګورئ ترکېدل-

ترکېدهٔ:(تره-کي-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ ترقېدن-

ترکے:(تَ-ړ-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ تړاکی-

ترکے:(تَ-ړ-کے)اسم- واحد- مذکر- بچکے- د مچمنې د سر هغه نرے تار چې د کانې د ويښتو په وخت پرېښودے کېږی او اواز ترې وځي- (افغانستان)-

ترل:(تَ-ړل)مصدر- (۱)د دوو يا زياتو ځيزونو تر مېنځه تعلق پيدا کول- (۲)غوټه ورکول- (۳)بندول- (۴)پابندول- پابند کول- (۵)جوړول- (۶)د تار، مزی يا پړی په ذريعه سره نښلول-

تړليک:(تړ-ليک)اسم- قرارداد- لوظ نامه- د غمنې ليک- معاهده-

تړلے:(تَ-ړهٔلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تړلي- مؤنث تړلې- وګورئ تړل-

ترم:(تهٔ-رم)اسم صفت- مذکر- لږ شان ګرم- نيم ګرم- تومن- (افغانستان)- مؤنث ترمه- جمع مؤنث ترمې-

ترماتې:(تره-ماتې)صفت- د ترماتے مؤنث- وګورئ ترماتے-

ترماتے:(تره-ماتے)اسم صفت- مذکر- لږ شان ګرم- مؤنث ترماتې-

ترمبه:(تره-مبه)اسم- واحد- مؤنث- هغه روټۍ چې په مستو او شوملو کښې د جوارو د پاره مېده شوی وی- (افغانستان)-

ترمتوب:(تهٔ-رم-توب)اسم- ترمتيا- ترموالے- لږ شان ګرم والے- کم تود والے-

ترمتيا:(تهٔ-رم-تيا)اسم- وګورئ ترمتوب-

ترموالے:(تهٔ-رم-والے)اسم- وګورئ ترمتوب-

ترمول:(تره-مول)مصدر متعدی- لږ تودول- تودول- ايله تاؤ وررسول-

ترمون:(تره-مون)حاصل مصدر- وګورئ ترمول-

ترمونکے:(تره-مون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ترمونکي- مؤنث ترمونکې- وګورئ ترمول-

ترمونه:(تره-مونهٔنه)حاصل مصدر- وګورئ ترمول-

ترمېدل:(تره-مي-دل)مصدر لازم- لږ ګرمېدل- لږ تودېدل- ايله تاؤ ور رسېدل-

ترمېدن:(تره-مي-دن)حاصل مصدر- وګورئ ترمېدل-

ترمېدنه:(تره-مي-دهٔنه)حاصل مصدر- وګورئ ترمېدل-

ترمېدونکے:(تره-مي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ترمېدونکي- مؤنث ترمېدونکې- وګورئ ترمېدل-

ترمېدهٔ:(تره-مي-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ ترمېدل-

www pukhto net

ترمے:(تر-مے)اسم- واحد- مذکر- لرہ گرمی-

ترن:(ت-رن)حاصل مصدر- وګورئ ترل-

ترنګ:(ت-رنګ)حاصل مصدر- وګورئ ترل-

ترنګ:(ترنګ)اسم صوت- ترنګا- ټنګار- ټنګ- دَ ساز اواز-

ترنګ:(ترنګ)اسم- واحد- مذکر- هغه غټ خوړند کاڼے چي ختل پرې ډېر ګران وي- جمع ترنګونه-

ترنګا:(ترنګ-ګا)اسم صوت- ټنګا- ټنګ- وګورئ ترنګ-

ترنګار:(ت-رنګ-ګار)اسم- واحد جمع- مذکر- سواګه- ګګار- چي زرګران پرې زر ویلې کوي-

ترنګړ:(ترنګ-ګړ)اسم- ترمګړ- خولی کټ- دَ بوچي یا ټاټ نه جوړ هغه ځالر چي ځاروو له پکښې ګیاه راوړے شي-

ترنګول:(ترنګ-ګول)مصدرِ متعدی- ټنګول- غږول- (عام طور سره دَ تارونو لرونکیو دَ موسیقۍ آلو سره راځي)-

ترنګون:(ترنګ-ګون)حاصل مصدر- وګورئ ترنګول-

ترنګونکے:(ترنګ-ګون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر-جمع ترنګونکي- مؤنث ترنګونکې- وګورئ ترنګول-

ترنګونګ:(ترنګ-ګونګ)حاصل مصدر- وګورئ ترنګول-

ترنګونه:(ترنګ-ګونه)حاصل مصدر- وګورئ ترنګول-

ترنګهار:(ترنګ-ګهار)اسم صوت- ترنګا- ټنګار- دَ ساز پوله پسې د ټنګ ټنګ اواز-

ترنه:(ت-رنه)حاصل مصدر- وګورئ ترل-

ترو:(ت-رو)اسم صفت- مذکر- (۱)ترو- کوچي ووړ او لوټې بوټي ریونکے- هغه څوک چي فضول لګیا وي- جمع تروګان- (۲)پلټې- لوټې بوټې- (اسم)-

ترو‌بے:(ت-رو-بے)اسم- واحد- مذکر- بمبه- دَ اُبو نلکه- جمع تروبي- (افغانستان)-

تروپ:(تروپ)اسم صوت- شروپ- کروپ- ګړوپ- ترپ- پهٔ ابو کښي د څهٔ ګیز د غړمبدو اواز-

تروکے:(ت-رو-کے)اسم- واحد- مذکر- چارک- دَ سېر څلورمه حصه- جمع تروکي-

تروميې:(ترومبې)اسم- جمع- مؤنث- ترمې شوې شلې-

ترون:(ت-رون)اسم- (۱)ترمه- غټه وړکونه- (۲)قاعده- رسم- دود- دستور- (۳)قرارداد- (۴)رابطه- تعلق- بانده- (۵)بندېز- تړه- نافه- (۶)اتحاد کونه- اتفاق کونه-

ترون سمون:(ت-رون-س-مون)اسم- ترنه سمونه- برابرونه- سمبالونه- پهٔ ترتیب کونه- جوړ جاړ برابرونه-

ترونکے:(ت-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ترونکي- مؤنث ترونکې- وګورئ ترل-

ترونے:(ت-رو-نے)اسم فاعل- (۱)جمع تروني- مؤنث ترونې- وګورئ ترل- (۲)اسم- دَ ترلو آله- هغه شے چي دَ هغې پهٔ ذریعه څهٔ ترل کیږي-

تره:(ت-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)لار- لاره- (۲)سخته زمکه- (۳)اراده- مقصد- (۴)وعده- لوظ- (۵)دَ تېرې څوکي غنډي- (۶)لویه غټه کلکه تیږه- (۷)دود- دستور- رواج- جمع ترې-

تره:(ت-ره)اسم- واحد- مؤنث- دلیل- حجت-

تره:(ت-ره)اسم- واحد- مؤنث- پهٔ چا پسې پهٔ غنډه راوتنه- دَ چا پهٔ ګډه ملګرتیا یا مخالفت کونه- قومي غړ- جمع ترې-

ترمار:(ت-ر-مار)اسم- دَ ترتري سوی پوله پسې جېږي-

تریاتوب:(تر-یا-توب)اسم- طمع- لالچ- حرص- اسره- امید- وعده-

تریسکار:(ت-ریس-کار)صفت- مټ وتے- اټ و پېټ- لګوتړک-

تریسکار:(ت-ریس-کار)متعلق فعل- ژر ژر- پهٔ یو مخ- یو دَ بل پسې بل-

تریسکار:(ت-ریس-کار)اسم- تړوه- وجه منډه- داؤ- دګړ-

تریسکه:(ت-ریس-که)اسم- واحد- مؤنث- عذاب- اذیت- سختۍ- کړاؤ- ناکرده- تکلیف- مشکل- جمع تریسکي-

تریسمار:(ت-ریس-مار)اسم- وګورئ ترسمار-

تریکه:(تری-که)اسم- واحد- مؤنث- ځریکه- بریبن- درد- دړد- تکلیف- (افغانستان)-

تربدل:(تهٔ-ری-دل)مصدرِ لازم- (۱)تېر تېر کول- فضول خبرې کول- (۲)پهٔ ترترۍ ژبه خبرې کول-

تربدلے:(تهٔ-ری-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تربدلي- مؤنث تربدلې- وګورئ تربدل-

تربدن:(تهٔ-ری-دن)حاصل مصدر- وګورئ تربدل-

تربدنګ:(تهٔ-ري-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تربدل-

تربدنه:(تهٔ-ري-دنه)حاصل مصدر- وګورئ تربدل-

تربدونکے:(تهٔ-ري-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تربدونکي- مؤنث تربدونکې- وګورئ تربدل-

تربدونے:(تهٔ-ري-دو-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تربدوني- مؤنث تربدونې- وګورئ تربدل-

تز:(تز)اسم- واحد- مذکر- سیره- باد- د کېږي هوا- تیز-

تزاوړ:(ت-زا-وړ)صفت- مذکر- تزن- تېزاوړ- تېزن- مؤنث تزاوړه- جمع مؤنث تزاوړې-

تزریق:(تز-ریق)اسم- (۱)پیچکاری- ستن لګونه- انجکشن لګونه- دَ بدن پهٔ څهٔ حصه کښې یا رګ کښې دَ سېرنج پهٔ ذریعه دارو داخلونه- (افغانستان)- (م- عربي)-

تزکیه:(تز-کی-یه)اسم- واحد- مؤنث- پاکوالے- پاکونه- (م- عربي)-

ترلزل:(ت-زل-زل)اسم- (۱)رپا- رپېدنه- رېږدېدنه- لړزېدنه- (۲)تازړهٔ توب- (م- عربي)-

ی" (خي-رل)، ی"(مي-رمول)، ی"(پيا-لی)، یے"(تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

تزن:(تـه-زن)صفت- واحد/جمع- مذکر- (۱)تیزاوږ- تېرن- تېرن- تېرن- (۲)نامرد- بې غېرته- مؤنث تزنه- جمع مؤنث تزنې-

تزندی:(ت-زن-دی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)تیزندی- هغه پړے چې د مرۍ خپه کولو د پاره د چا مرۍ ته اچولے شي- (۲)پانسی- د مرۍ خفه کونه-

تزنول:(تز-ن-ول)مصدر متعدی- ربړول- کړول- تنګول- اذیت ورکول- پادابول-

تزنولے:(تز-ن-وملے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تزنولی- مؤنث تزنولې- وګورئ تزنول-

تزنون:(تز-مه-ون)حاصل مصدر- وګورئ تزنول-

تزنونکے:(تز-ن-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تزنونکي- مؤنث تزنونکې- وګورئ تزنون-

تزنونګ:(تز-ن-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تزنول-

تزنونه:(تز-ن-ونه)حاصل مصدر- وګورئ تزنول-

تزنېدل:(تز-نې-دل)مصدر لازم- کړېدل- ربړېدل- پادابېدل- تنګېدل- اذیت ورکېدل- په عذابېدل-

تزنېدن:(تز-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ تزنېدل-

تزنېدنګ:(تز-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تزنېدل-

تزنېدنه:(تز-نې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ تزنېدل-

تزنېدونکے:(تز-نې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تزنېدونکي- مؤنث تزنېدونکې- وګورئ تزنېدل-

تزنېدونے:(تز-نې-دونے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تزنېدوني- مؤنث تزنېدونې- وګورئ تزنېدل-

تزنېدهٔ:(تز-نې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غایب صیغه- وګورئ تزنېدل-

تزویج:(تز-ویج)اسم- نکاح- واده- واده کونه-

تزویر:(تز-ویر)اسم- مکر- فریب- چل- چل ول- دوکه- تزویر- (م- عربی)-

تزوے:(تـ-ز-وے)اسم- واحد/جمع- مذکر- شنې پاڼې لرونکے یو قسم واښه- (افغانستان)-

تزیید:(تز-یید)اسم- مذکر- زیات والے- ډېروالے-

تزیین:(تز-یین)اسم- (۱)ښکلے کونه- سنګارونه- پولي کونه- (۲)ښائست- ښکلا- (م- عربی)-

تزیینی:(تز-یی-نی)صفت- د تزیین سره متعلق-

تزے:(ت-زے)اسم- واحد- مذکر- (۱)توزے- هغه غنډه کرمن یا کېږه چې د خیمې د پاسه د ښوري د مضبوطیا د پاره ګنډلے شي- (۲)د جوارو مغز- (افغانستان)-

تړل:(ت-ړل)اسم- تیارے- امادګی- چمتووالے- (افغانستان)-

تړل:(ت-ړل)مصدر- تړول- تړاشل-

توم:(تـه-وم)اسم- واحد- مذکر- بدبوئ- ووم- سخا بوئ- جمع تومونه- (افغانستان)-

توم زن:(ته-وم-زن)صفت- مذکر- ووم زن- ووم لرونکے-

تږے:(تـه-ږے)اسم صفت- واحد- مذکر- تندې اخستے- د اُبو څښلو خواهش لرونکے- جمع تږی-

تږے والے:(ته-ږے-والے)اسم- تنده- د اُبو خواهش او ضرورت لرنه-

تس:(تس)صفت- مذکر- تش- خالی- پوچ- د ډک ضد-

تس:(تس)اسم صوت- د اوبو د پورته کولو، شړلو او ودرولو اواز-

تسامح:(تـ-سا-مح)اسم- د اظهار غیر محتاط او ناقص انداز- ابهام- (م- عربی)-

تساند:(تـ-سا-ند)اسم- همکاری- یو بل سره مدد کونه- باهمی مرسته- باهمی تعاون-

تساوی:(تـ-سا-وی)اسم- برابروالے- یو شان کېدنه- برابرېدنه-

تساهل:(تـ-سا-هل)اسم- سستی- غفلت- (م- عربی)-

تسک:(تس-بک)صفت- (۱)کلک- محکم- (۲)تیغ- سم- (افغانستان)-

تسبه:(تس-به)اسم- واحد- مؤنث- (۱)تسبه- (۲)تسبیح- د لرګی، شیشې، مسالې وغیره نه جوړه هغه دانه چې مزی کښې تړو داسې دانو سره پېیلې شوی وی- جمع تسبې-

تسبیح:(تس-بیح)اسم- (۱)تسبې- د تسبو امیل- (۲)د خدائ پاکی بیانونه- ورد- وظیفه-

تسپه:(تس-په)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ تسبه-

تسخیر:(تس-خیر)اسم- په قابو کښې راوستنه- تابع کونه- کېرونه- (م- عربی)-

تسخین:(تس-خین)اسم- تودونه- ګرمونه- (م- عربی)-

تسریع:(تس-ریع)اسم- بیړه کونه- هڅه کونه- چټکوالے- ګړندوالے- تلوار کونه- سرعت نه کار اخستنه- جلدی کونه- (م- عربی)-

تسطیح:(تس-طیح)اسم- پلنونه- هوارونه- مسطح کونه- (م- عربی)-

تسکره:(تس-کره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)تذکره- ذکر- بیان- یاداشت- قومی شناختی کارډ- (افغانستان)- (۲)ستریچر- هسپتال کښې د بیمارانو د وړلو د پاره استعمالېدونکې بانکی- (افغانستان)- (م- عربی)-

تسکوره:(تس-کو-ره)اسم- واحد- مؤنث- سکوره- د لرګی او د اوسپنې ورد مخ لرونکې هغه آله چې د زمکې کنستلو د پاره پکارېږی- کدالـه- کودالـه- کدالی- کودالی- جمع تسکوری-

تسکین:(تس-کین)اسم- تسلی- سود- اطمینان- قرار- ارام- (م- عربی)-

تسل:(ت-سل)اسم- تسلی- ډاډ- اطمینان- (م- عربی)-

تسلسل:(ت-سل-سل)اسم- سلسله- یو بل پسې کېدنه- پرله پسې کېدنه- (م- عربی)-

تسلط:(ت-سل-لط)اسم- (۱)مسلط کېدنه- په قابو کښې راوستنه- (۲)بریالے

زبر"(ج-مڼ-ره)، "زورکے"(شل)، "پېښ"(نو-کا-ره)، "زبر"(کـ-تاب)، "جزم"(شکون)، "ه"(ز-ره)، "ۀ"(يو-سي-مه-ده)

www.pukhto.net

کېدنه- په چا برے موندنه-

تسله:(تَ-سَ-لَه)اسم- واحد- مؤنث- تسل- تسلي- ډاډ- اطمينان- جمع زوړه- جمع تسلي- (م- عربی)-

تسلی:(تَ-سل-لی)اسم- (۱)سود- ډاډ- ډاډګيرنه- اطمينان- تسله- (م- عربی)-

تسليم:(تس-ليم)اسم- (۱)منه- قبلونه- غاړه ايښودنه- تابع کېدنه- سلامي کېدنه- (۲)سپارنه- حواله کونه- (م- عربی)-

تسليمول:(تَس-لی-مُ-ول)مصدر متعدی- (۱)منل- قبلول- غاړه ايښودل- سلامي کول- (۲)سپارل- حواله کول-

تسليمون:(تَس-لی-مُ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ تسليمول-

تسليمونکے:(تَس-لی-مُ-وَن-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تسليمونکي- مؤنث تسليمونکې- وګورئ تسليمول-

تسليمونه:(تَس-لی-مُ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ تسليمول-

تسليمي:(تَس-لی-مي)اسم- (۱)تسلونه- تابع کېدنه- (۲)ورسپارنه- ورحواله کونه-

تسليمېدل:(تس-لی-مې-دل)مصدر لازم- (۱)قبلېدل- منلے کېدل- (۲)ايل کېدل- تابع کېدل- سلامي کېدل- حواله کېدل-

تسليمېدن:(تس-لی-مې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ تسليمېدل-

تسليمېدنه:(تس-لی-مې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ تسليمېدل-

تسليمېدونکے:(تس-لی-مې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تسليمېدونکي- مؤنث تسليمېدونکې- وګورئ تسليمېدل-

تسليمېدهٔ:(تس-لی-مې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ تسليمېدل-

تسمه:(تس-مه)اسم- واحد- مؤنث- د څرمنې وړه نرۍ ريبنه- د څرمنې پټۍ- کمر بند- ملاتړونے- پټه- د څرمنې پټه- جمع تسمې-

تسمه غوړ:(تس-مه-غوړ)اسم- هغه موم چې موچيان پرې تسمې غوړوي- ژوله- (افغانستان)-

تسميا:(تس-مي-يا)اسم- نسميا کېدنه- تسمې تسمې کېدنه- تږ چاودنه- ذره ذره کېدنه- پرق چاودنه-

تسميه:(تس-مي-يه)اسم- نوم ايښودنه- بسم الله وئېله- (م- عربی)-

تس نس:(تَس-نَس)اسم صفت- (۱)تسونس- ثيت پرک- ورک پرک- ګډوډ- خوارهٔ وارهٔ- (۲)ژر خلاص شوے- تمام شوے-

تسو:(تَ-سُو)اسم- (۱)يو نيم انچ- (۲)د زمکې نهٔ تقسيمېدونکې برخه- (م- هندی تَسوا)-

تسول:(تَ-س-ول)مصدر متعدی- (۱)تشول- خالي کول- (۲)غرخول- (۳)پړول- پر کړل-

تسون:(تَ-س-ون)حاصل مصدر- وګورئ تسول-

تسونس:(تَ-سو-نَس)صفت- (۱)تس نس- خوارهٔ وارهٔ-

تسونکے:(تَ-س-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تسونکي- مؤنث تسونکې- وګورئ تسول-

تسونه:(تس-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ تسول-

تسويد:(تس-ويد)اسم- مسوده کونه- سمونه- ټيک کونه- (م- عربی)-

تسيا:(تس-يا)صفت- (۱)بې هوشه- بې خوده- بې حسه- خالي والے- تشوالے- (افغانستان)-

تسېدل:(تَ-سې-دل)مصدر لازم- خالي کېدل- تشېدل- دَ ډکېدلو ضد-

تسېدن:(تَ-سې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ تسېدل-

تسېدنه:(تَ-سې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ تسېدل-

تسېدونکے:(تَ-سې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تسېدونکي- مؤنث تسېدونکې- وګورئ تسېدل-

تش:(تَش)صفت متعلق فعل- (۱)تس- خالي- ډډ- کوک- بې مغزه- (۲)فقط- ايله- يواځې- دومره- محض- صرف- (۳)فرض رکعتونو کښې دَ دوؤ وروستيو رکعتونو نه پس ته رکعت يا رکعتونه- (۴)دَ منی انزال نه پس دَ الت حالت-

تش:(تَش)اسم- واحد- مذکر- د جامو وينځلو دَ پاره لوئې ښانک- (افغانستان)-

تشاکل:(تَ-شا-کُل)اسم- يو شان کېدنه- (م- عربی)-

تش بازو:(تش-با-زُو)اسم- دَ لامبو يو قسم- (افغانستان)-

تش بازی:(تش-با-زی)اسم- واحد- مؤنث- بې لهٔ شناوره په سينه پورې وتمه- جمع تش بازی- (افغانستان)-

تش بانے:(تش-با-نے)اسم- واحد- مذکر- بې پنډه- بې سامانه- بې وسلې- د مزل په وخت سامان وغيره نهٔ لرونکے- جمع تش بانی-

تشبيب:(تش-بيب)اسم- د قصيدې تمهيد چې شاعران پکښې عام طور سره دَ عشقيه تاثر مضامين پيش کوي- (م- عربی)-

تشبيه:(تش-بيه تش-بيه)اسم- مشابه کونه- د دوؤ څيزونو يو بل سره مشابهت- (م- عربی)-

تش پانے:(تش-پا-نے)اسم- واحد- مذکر- تش بانے- تش لاسے- دَ جنګ په وخت کښې بې وسلې سړے- جمع تش پانی- مؤنث تش پانې-

تش په توره:(تش-په-تو-ره)متعلق فعل- تړناخقه- برناحقه- زېږ په وجه-

تشت:(تَشت)اسم- ښانک- لګن- هغه ژور لوښے چې ډېرې اُبهٔ پکښې جمع کيږي او جامې پکښې وينځلے شي-

تشوالے:(تش-وا-لے)اسم- تشتوب- خالي والے- تشتيا-

تشتوب:(تش-توب)اسم- وګورئ تشوالے-

تش تور:(تش-تور)صفت- (۱)بالکل خالي- بېخي تش- خالي لاس- (۲)ناکام- پاتې- تش- محروم- بې برخې-

تشتورے:(تش-تو-رے)اسم- واحد- مذکر- څڅکورے- کشکورے- څخکورے- مټوکه- د کوزې لوټې يا چانک مټوکه، خله يا څخکورے- سنت- سخنګ-

www.pukhto.net

تشتیا:(تش-تیا)اسم- وګوری تشوالے-

تشتیه:(تش-تي-یه)اسم- واحد- مونث- (۱)د ګېډې ورته عوښه- (۲)د ګېډې د زامني عوښه-

تش خانه:(تش-خا-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)آتش خانه- د اور کوټه- (۲)انګیټي- چړی- بخاری- جمع تش خاني-

تشحر:(ت-شح-حر)اسم- منبر- سحمیت- اندرابیت- (م- عربي)-

تشخیص:(تش-خیص)اسم- (۱)د ناروغۍ وجه معلومونه- (۲)ټاکل- تعینول- (۳)اندازه لګونه- بیلونه- فرق کونه- (م- عربي)-

تشخیصول:(تش-خی-صو-ول)مصدر متعدي- (۱)ټاکل- مقررول- تعین کول- (۲)د ناروغۍ معلومول- د ناروغیا پېژندل- اندازه لګول- بیلول-

تشخیصي:(تش-خی-صي)اسم- د تشخیص سره متعلق- (م- عربي)-

تشخیصېدل:(تش-خی-صې-دل)مصدر لازم- (۱)د بیمارۍ وجه معلومېدل- (۲)ټاکلې کېدل- مقررېدل- ټاکلېدل- (۳)بیلېدل- پېژندلے کېدل- (م- عربي)-

تشدد:(ت-شد-دد)اسم- سختي- زیاتے- جبر- سخته رویه-

تشدید:(تش-دید)اسم- (۱)زور اچونه- انتشار پیدا کونه- (۲)د شد علامت (ّ) ورکونه-

تشریح:(تش-ریح)اسم- شرح کونه- بیانونه- وضاحت-

تشریحي:(تش-ري-حي)اسم- د تشریح سره متعلق-

تشریع:(تش-ریع)اسم- شریعت ورکونه- قانون ورکونه- لاره ښونه- په سمه لاره اچونه- (م- عربي)-

تشریعي:(تش-ري-عي)اسم- د تشریع سره متعلق-

تشریف:(تش-ریف)اسم- عزت ورکونه- شرف ورکونه- بزرګي ورکونه- لوی والے- درونددوالے- (م- عربي)-

تشریفات:(تش-ري-فات)اسم- جمع- (۱)د تشریف جمع- (۲)تکلف- ظاهر داري کونه- رسمي او ظاهري مرکلے یا خبري- (۳)استقبالي اداره یا فعل- (افغانستان)-

تشریفاتي:(تش-ري-فا-تي)اسم- د تشریفات سره متعلق-

تشفي:(تش-شف-في)اسم- تسلي- سکون- دلجمعي- (م- عربي)-

تشکارل:(تش-کا-رل)مصدر متعدي- تشکارول- جنګ د پاره سپے پارول- ویشکه کول- توش کول- سپے ایش کول- کشکارل-

تشکارلے:(تش-کا-رل-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تشکارلي- مؤنث تشکارلې- وګوری تشکارل-

تشکارن:(تش-کا-رن)حاصل مصدر- وګوری تشکارل-

تشکارنګ:(تش-کا-رنګ)حاصل مصدر- وګوری تشکارل-

تشکارنه:(تش-کا-رنه)حاصل مصدر- وګوری تشکارل-

تشکارول:(تش-کا-رول)مصدر متعدي- وګوری تشکارل-

تشکارون:(تش-کا-رون)حاصل مصدر- وګوری تشکارل-

تشکارونکے:(تش-کا-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تشکارونکي- مؤنث تشکارونکې- وګوری تشکارل-

تشکارونکے:(تش-کا-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تشکارونکي- مؤنث تشکارونکې- وګوری تشکارول-

تشکارونګ:(تش-کا-رونګ)حاصل مصدر- وګوری تشکارل-

تشکارونه:(تش-کا-رونه)حاصل مصدر- وګوری تشکارل-

تشکر:(ت-ش-کر/ت-شک-کر)اسم- واحد- مذکر- شکریه- شکر- منته- مهرباني- (افغانستان)- (م- فارسي)-

تشکک:(ت-شک-کک)اسم- شک کونه- (م- عربي)-

تشکل:(ت-شک-کل)اسم- واحد- مذکر- (۱)بڼه پیدا کونه- مېنځ ته راتلنه- تشکیل کونه- (۲)شکلے کېدنه- جمع تشکلونه-

تشکیک:(تش-کیک)اسم- په شک کښې اچونه- شک- اندېښنه- شبه- (م- عربي)-

تشکیل:(تش-کیل)اسم- جوړښت- تاسیس- جوړونه- (م- عربي)-

تشکیلول:(تش-کي-ل-ول)مصدر متعدي- شکل ورکول- جوړول- تاسیسول- مېنځ ته راوړل- (م- عربي)-

تشکیلون:(تش-کي-ل-ون)حاصل مصدر- وګوری تشکیلول-

تشکیلونکے:(تش-کي-ل-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تشکیلونکي- مؤنث تشکیلونکې- وګوری تشکیلول-

تشکیلونه:(تش-کي-ل-ونه)حاصل مصدر- وګوری تشکیلول-

تشکیلېدل:(تش-کي-لې-دل)مصدر لازم- جوړېدل- اخری شکل ورکېدل- تاسیسېدل- (م- عربي)-

تشکیلېدن:(تش-کي-لې-دن)حاصل مصدر- وګوری تشکیلېدل-

تشکیلېدنه:(تش-کي-لې-دنه)حاصل مصدر- وګوری تشکیلېدل-

تشکیلېدونکے:(تش-کي-لې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تشکیلېدونکي- مؤنث تشکیلېدونکې- وګوری تشکیلېدل-

تشکیلېده:(تش-کي-لې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګوری تشکیلېدل-

تش لاس:(تش-لاس)اسم صفت- (۱)تش لاسے- مفلس- خوار- غریب- بې پیسې- (۲)غیر مسلح- بې وسلې-

تش لاسے:(تش-لا-سے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)کنګال- خوار- تېستمن- بې شتو- بې پیسو- (۲)بې وسلې- جمع تش لاسي- مؤنث تش لاسې-

تشلمه:(تش-ل-مه)اسم- واحد- مؤنث- کچلمه- دشلمه- یوه شیریني چې چایو سره خوړلے شي-

تش مغزے:(تش-مغ-زے)اسم صفت- واحد- مذکر- بې عقله- ناپوهه- بې فکره- جمع تش مغزي-

تشناب:(تش-ناب)اسم- غسل خانه- چارچوبي- چرچوبي- چمچوبي-

تشنج:(ت-شن-نج)اسم- د وجود اعصاب بې حسه کېدنه- د لاسو پښو کږېدنه- تښنس- (م- عربي)-

زبر ـَ (خ-بـه-ره)، زورکے ـُ (شل)، پېښ ـُ (نو-کا-ره)، زېر ـِ (ک-تاب)، جزم ـْ (شکوني)، ـه (ر-ـه)، ـۀ (پو-ښي-ده)

www.pukhto.net

تشنګ:(تش-نګ)اسم- واحد- مذکر- تنده- تلوسه- جل- (م- فارسي)-

تشنګ:(ت-شنګ)اسم- تشنګ- تشنګي- تنده- تږې والے- تونشګ- جل-

تشنګي:(تش-ن-ګي)اسم- وګورئ تشنګ- (م- فارسي)-

تشنه:(تش-نه)صفت- تږے- (م- فارسي) -

تشوالے:(تش-وا-لے)اسم- مذکر- تشتوب- خالي والے-

تشوکے:(تَه-شُو-کے)اسم- واحد- مذکر- خالي- تش- ګوګ- (افغانستان)-

تشول:(تَه-شَ-وَل)مصدر متعدي- خالي کول- پېول- ګوګول- خلاصول- (انزال)-

تشون:(تَه-ش-ون)حاصل مصدر- وګورئ تشول-

تشونکے:(تَه-شَ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تشونکي- مؤنث تشونکې- وګورئ تشول-

تشونګ:(تَه-ش-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تشول-

تشونه:(تَه-شَ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ تشول-

تشووے:(تَه-ش-وو-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تشووي- مؤنث تشووې- وګورئ تشول-

تشويش:(تش-ويش)اسم- پرېشاني- فکر- سوچ- سودا- اندېښنه- (م- فارسي)-

تشويق:(تش-ويق)اسم- لمسونه- هڅونه- ترغيبونه- شوق پيدا کونه- (م- عربي)-

تشويقول:(تش-وي-ق-ول)مصدر متعدي- هڅول- لمسول- په شوق راوستل- ترغيبول- مائله کول- اماده کول- (افغانستان)-

تشه:(تَه-شه)صفت- (۱)د تش مؤنث- خالي- پېه- (۲)د زمکې د پاسه د هوا کره- فضا-

تشهد:(تش-هد ت-ش-هد)اسم- کلمهٔ شهادت لستنه يا ويئه- دويم او څلورم رکعت کښې په ناستې کلمهٔ شهادت وئيه- (م- عربي)-

تشهير:(تش-هير)اسم- (۱)شهرت ورکونه- مشهوروونه- (۲)شرمونه- مسخره کونه- رسوا کونه- په غلط کار د خلقو په مينځ کښې رسوا کونه- مخ تورونه او په خره سوروونه- (م- عربي)-

تشېدل:(تَه-شې-دل)مصدر لازم- (۱)خالي کېدل- پېېدل- ګوګېدل- (۲)انزال کېدل- (۳)د کېډې خالي کېدل-

تشېدن:(تَه-شې-دن)حاصل مصدر- وګورئ تشېدل-

تشېدنګ:(تَه-شې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تشېدل-

تشېدنه:(تَه-شې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ تشېدل-

تشېدونکے:(تَه-شې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تشېدونکي- مؤنث تشېدونکې- وګورئ تشېدل-

تشېدوے:(تَه-شې-دُو-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تشېدوي- مؤنث تشېدوې- وګورئ تشېدل-

تشے:(تَه-شے)اسم- واحد- مذکر- د انسان او حيوان د پښو په لاندې او د پوندې د پاسه خالي ځاے-

تښ:(تښ)اسم- د تښتل مصدر ته اسم- تښتېدل-

تښتاوړه:(تښ-تا-وَ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- متيره-

تښتکے:(تښ-ت-کے)اسم- واحد- مذکر- کوزغاړے- پنهوکے- کودے- مات کموړلے- د سپو يا چرګيو چرګانو د اوبو څښلو لوښے- (افغانستان)-

تښتن:(تښ-تن)اسم- د څښتن يو قرائت- بادار- مالک- آقا- خاوند-

تښتند:(تښ-تند)اسم صفت- (۱)تښتېدونکے ته تيار- تښتېدونکے- (۲)په قهر او غصه تښتېدونکے-

تښتول:(تښ-ت-ول)مصدر متعدي- (۱)تښول- په منډه کول- څغلول- (۲)په زور بوتلل- اغوا کول- (۳)بری کول- پېرول- شکست ورکول-

تښتولے:(تښ-تَ-وَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تښتولي- مؤنث تښتولې- وګورئ تښتول-

تښتون:(تښ-ت-ون)حاصل مصدر- وګورئ تښتول-

تښتونکے:(تښ-ت-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تښتونکي- مؤنث تښتونکې- وګورئ تښتول-

تښتونګ:(تښ-ت-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تښتول-

تښتونه:(تښ-تَ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ تښتول-

تښته:(تښ-ته)امر- کلمه تحقير- (۱)د تښتېدل څخه د امر صيغه- کلمه تحقير-

تښتېدل:(تښ-تې-دل)مصدر لازم- (۱)په منډه کېدل- څغلېدل- (۲)د ښځې خپل کور پرېښول او چا پسې تلل- (۳)پرېدل- د څه خبرې نه په ځنګ کېدل-

تښتېدلے:(تښ-تې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تښتېدلي- مؤنث تښتېدلې- وګورئ تښتېدل-

تښتېدن:(تښ-تې-دن)حاصل مصدر- وګورئ تښتېدل-

تښتېدنګ:(تښ-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تښتېدل-

تښتېدنه:(تښ-تې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ تښتېدل-

تښتېدونکے:(تښ-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تښتېدونکي- مؤنث تښتېدونکې- وګورئ تښتېدل-

تښتېدوے:(تښ-تې-دو-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تښتېدوني- مؤنث تښتېدونې- وګورئ تښتېدل-

تښتېده:(تښ-تې-ده)حاصل مصدر- وګورئ تښتېدل-

تښغ:(ت-ښغ)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ توښغ-

تبل ۱:(تبل)مصدر- د څېل يو قرائت-

تبل ۲:(ت-بل)مصدر- تبتېدل-

تبلے:(تبَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تبلي- مؤنث تبلې- وګورئ تبل ۱-

تبلے:(تَه-بَه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تبلي- مؤنث تبلې-

ئ" (ئى-ول)، ي"(مي-رو-ول)، ې"(پيا-لى)، ه"(تن-دير) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

وګورئ تسل ۲-

تس(تس)حاصل مصدر- وګورئ تسل ۱-

تس (تـ-ش)حاصل مصدر- وګورئ تښل ۲-

تښنګ:(تښنګ)حاصل مصدر- وګورئ تښل ۱-

تسنګ:(تـ-سنګ)حاصل مصدر- وګورئ تښل ۲-

تښته(تښـ-ته)حاصل مصدر- وګورئ تښل ۱-

تښته(تـ-ښـ-ته)حاصل مصدر- وګورئ تښل ۲-

تښول (تـ-ښ-ول)مصدر متعدي- د تښتول يو قرأت- وګورئ تښتول-

تښولے:(تـ-ښ-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تښولي- مؤنث تښولې- وګورئ تښتولے-

تښون:(تـ-ښ-ون)حاصل مصدر- وګورئ تښتون-

تښونکے:(تـ-ښون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تښونکي- مؤنث تښونکې- وګورئ تښل ۱-

تښونکے:(تـ-ښون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تښونکي- مؤنث تښونکې- وګورئ تښل ۲-

تښونکے:(تـ-ښ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تښونکي- مؤنث تښونکې- وګورئ تښتونکے-

تښونګ(تـ-ښ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تښتونګ-

تښونه(تـ-ښ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ تښتونه-

تصادم:(تـ-صا-دم)اسم- دغره- ټکره- په خپلو کښې جنګېدنه- کرچ- د دوو کسو جنګېدنه- (م- عربی)-

تصانيف:(تـ-صا-نيف)- تصنيف جمع- وګورئ تصنيف-

تصاوير:(تـ-صا-وير)اسم- جمع- د تصوير جمع- وګورئ تصوير-

تصحيح(تص-حيح)اسم- صحيح کونه- سمونه- اصلاح کونه- غلطي لرې کونه-

تصحيف:(تص-حيف)اسم- په ليک لست کښې غلطي کونه- د حرو ټورېو په ځاې غلط ټوري ليکنه لکه د "ص" په ځاې "س" او د "س" په ځاې "ث" وغيره- (م- عربی)-

تصدق:(تـ-صد-دق)اسم- صدقه- ترباني- خيرات- (م- عربی)-

تصديع:(تص-ديع)اسم- تکليف- درد سر- (م- عربی)-

تصديق:(تص-ديق)اسم- (۱)د تکذيب ضد- رښتيا ګڼنه- تائيدونه- صداقت- تائيد- (۲)شهادت- شاهدي- (م- عربی)-

تصديقول:(تص-دي-ق-ول)مصدر متعدي- (۱)رښتيا بلل- تائيدول- رښتيا ګڼل- (۲)منل- قبلول- (۳)شهادت کول-

تصرف:(تـ-صر-رف)اسم- (۱)قبضه- اختيار- (۲)تبديلي راوستنه- ګټې وهنه- (۳)خرڅ- صرف- (م- عربی)-

تصرفول:(تـ-صر-رف-ول)مصدر متعدي- (۱)قبضه کول- ګېرول- (۲)تبديلي راوستل- ګټې وهل- (۳)خرڅ کول- صرف کول- (م- عربی)-

تصريح:(تص-ريح)اسم- شرح- تشريح- تفصيل- صفا صفا څرګندونه- ښکاره کونه- (م- عربی)-

تصريف:(تص-ريف)اسم- (۱)مصرفونه- خرڅ کونه- (۲)تبديلي راوستنه- (۳)اړونه- ګرځونه- (۴)د صرف علم-

تصريفي:(تص-ري-فی)اسم- د تصريف سره متعلق- وګورئ تصريف-

تصغير:(تص-غير)اسم- وړوکوالے- کوتاهي- هغه اسم چې وړوکوالے ظاهروي-

تصفيه:(تص-فی-يه)اسم- (۱)صفائي- صفا کونه- چاڼونه- (۲)فيصله- (۳)بېلتون- (۴)ثالثي- (۵)د معاملاتو حل کونه- (م- عربی)-

تصنع:(تـ-صن-نع)اسم- (۱)جعل- تکلف- ظاهري نمائش- ځان ښونه- (۲)دوکه- فريب- جعلسازي- (م- عربی)-

تصنعي:(تـ-صن-ن-عي)اسم- د تصنع سره متعلق- وګورئ تصنع-

تصنيف:(تص-نيف)اسم- طبع زاد کتاب ليکنه- ټولګې ټولګې کونه- جمع تصانيف تصنيفونه- (م- عربی)-

تصور:(تـ-صو-ور)اسم- (۱)خيال- (۲)سوچ- اندېښنه- (۳)ګومان- (م- عربی)-

تصوري:(تـ-صو-و-ري)اسم- د تصور سره متعلق- وګورئ تصور-

تصوف:(تـ-صو-وف)اسم- د نفساني خواهشونو پاکېدنه- الٰهي اخلاق اختيارونه- (۲)هغه علم چې د هغې په ذريعه د زړه تزکيه کيږي او د انسان او خداې تر منځه تعلق پيدا کيږي- (م- عربی)-

تصويب:(تص-ويب)اسم- سم او صحيح ګڼنه- د يو کار سموالي او ناسموالي حکم ورکونه- (م- عربی)-

تصوير:(تص-وير)اسم- انځور- نقش- بوت- صورت- عکس- ګېره- خاکه- شکل- جمع تصويرونه تصاوير- (م- عربی)-

تصويرول:(تص-وی-ر-ول)مصدر متعدي- انځورول- مجسمول- شکل ورکول- کنل- (امعانستان)-

تضاد:(تـ-ضاد)اسم- (۱)خلاف- ورانوالے- ضد- (۲)د نظم او نثر هغه صنعت چې مخالف لفظونه پکښې يو ځاې راشي- (م- عربی)-

تضحيک:(تض-حيک)اسم- په چا پورې خندا کونه- توهين- ذلت- رسوائي- (م- عربی)-

تضرع:(تـ-ضر-رع)اسم- زاري- زاري- عاجزي او عذر کونه- (م- عربی)-

تضعيف:(تض-عيف)اسم- (۱)دوه چنده کونه- دوه- دونه کونه- (۲)کمزورے کونه- يوې خبرې خاص طور سره حديث ته د ضعف نسبت کونه- (م- عربی)-

تضليل:(تض-ليل)اسم- ګمراهونه- په چا د ګمراهي حکم کونه- (م- عربی)-

تضمين:(تض-مين)اسم- (۱)ضمانت کونه- ذمه وهنه- ذمه واري- (۲)د چا په شعرونو باندې داسې بندونه جوړونه چې د هر بند وروستې او له وروستې نه مخکښې مصرع دواړه د اصل شاعر او نورې مصرې د بندونو د جوړونکي شاعر وي- (م- عربی)-

تضمينول:(تض-مي-ن-ول)مصدر متعدي- (۱)ضمانت کول- ذمه وهل- په ذمه

احصتل- (۲)د شعر تضمين ليکل- (افغانستان)- (م- عربي)-
تضمينېدل:(تض-مي-نې-دل)مصدر لازم- تضمين کېدل- ذمه وهل کېدل- (افغانستان)- (م- عربي)-
تطابق:(تَ-طا-بق)اسم- مطابقت- برابرېدنه- متفق کېدنه- د نثر نظم يو صنعت چې د شعر لغتونه پکښې داسې راشي چې يو بل سره مناسبت لري- (م- عربي)-
تطاول:(ت-طا-ول)اسم- ظلم- زياتے- جور- (م- عربي)-
تطبيق:(تط-بيق)اسم- مطابقت- موافقت- دوه يا زيات څيزونه سره برابرېدنه- (۲)عملي جامه وراغستنه- اجرا کونه-
تطبيقول:(تط-بي-ق-ول)مصدر متعدي- سره برابرول- سره سمول- د دوو څيزونو سره برابرول- (افغانستان)-
تطبيقي:(تط-بي-قي)صفت- د تطبيق سره متعلق-
تطبيقېدل:(تط-بي-قې-دل)مصدر لازم- (۱)سره برابرېدل- سره سمېدل- (۲)عملي کېدل- اجرا کېدل- (افغانستان)-
تطهير:(تط-هير)اسم- پاکونه- وينځنه- چونه-
تعارض:(ت-عا-رض)اسم- تېرے کونه- زياتے کونه- سره لګېدنه- سره مقنته- برېد کونه- (م- عربي)-
تعارف:(ت-عا-رف)اسم- واقفيت- پېژندګلو- آشنا کېدنه- يو بل سره پېژندنه- معرفي- (م- عربي)-
تعاقب:(ت-عا-قب)اسم- پسې تېر کونه- شکست خوړلے لښکر يا مرد پهٔ منډه راګيرونه- (م- عربي)-
تعالى:(ت-عا-لى)اسم- د الله د نامې نه پس راتلونکې کلمه چې معنى ئې بلند، عالي مرتبه لهٔ ټولو مفتونو وجت ده-
تعالى الله:(ت-عا-لل-لا)کلمهٔ تعجب- د تعجب کلمه چې د تعريف يا حېرانتيا پهٔ موقع وئيلے شي- (م- عربي)-
تعامل:(تَ-عا-مل)اسم- (۱)رسم و رواج- دود دستور- رواج- (۲)يو پهٔ بل اثر کونه-
تعاون:(ت-عا-ون)اسم- مرسته- ملګرتيا- مدد- کومک- (م- عربي)-
تعاوني:(تَ-عا-وني)اسم- د تعاون سره متعلق-
تعب:(تَ-عَب)اسم- تکليف- رنځ- مصيبت- (م- عربي)-
تعبير:(تَع-بير)اسم- (۱)عبارت کښې راوستنه- تفسير- تاويل- (۲)دَ خوب معنى ښنه- (م- عربي)-
تعبيرول:(تَع-بي-ر-ول)مصدر متعدي- (۱)بيانول- مطلب او مقصد بيانول- (۲)دَ خوب معنى کول- (افغانستان)- (۳)خبره پهٔ بل رنګ ګڼل- دَ خبرې بله معنى کول-
تعبيرېدل:(تَع-بي-رې-دل)مصدر لازم- (۱)بيانېدل- مطلب او مقصد پهٔ ګرګندو ټکو بيانېدل- (۲)د خوب معنى کېدل- (۳)خبره پهٔ بل رنګ ګڼل- (۴)تفسير کېدل- تاويل کېدل- (افغانستان)-

تعبيه:(تع-بي-يه)اسم- ساتنه- چاره- سمالونه- برابرونه-
تعجب:(تَ-عَج-جب/تَ-عج-جب)اسم- حيرانتيا- حيراني- حيرانګي- (م- عربي)-
تعجيل:(تَع-جيل)اسم- تلوار- بيړه- تادي- جلتي- جلدي- (م- عربي)-
تعداد:(تَع-داد)اسم- شمېر- شمار- ګڼتري-
تعدي:(تَع-دي/تَ-عَد-دي)اسم- زور ظلم- جبر- جور- زياتے- دَ حد نه تجاوز کونه- (م- عربي)-
تعديل:(تَع-ديل)اسم- (۱)صحيح کونه- درستونه- (۲)څهٔ څيز د بل برابرونه- (م- عربي)-
تعديلول:(تَع-دي-ل-ول)مصدر متعدي- سمول- اړول- اصلاح کول- جوړول- بدلول- (افغانستان)-
تعديه:(تَع-دي-يه)اسم- د لازم فعل نه متعدي کونه- (م- عربي)-
تعذيب:(تَع-ذيب)اسم- خوروِنه- ربړونه- عذاب ورکونه- پاداښونه- ګرونه- پهٔ عذابونه- (م- عربي)-
تعذيبول:(تَع-ذي-ب-ول)مصدر متعدي- ربړول- تنګول- خورول- کړول- پاداښول- تکليفول- پهٔ عذابول- (افغانستان)-
تعذيبېدل:(تَع-ذي-بې-دل)مصدر لازم- ربړېدل- کړېدل- تنګېدل- خورېدل- پاداښېدل- پهٔ عذابېدل- (افغانستان)-
تعرض:(تَ-عر-رُض)اسم- برېد- غوپه- حمله- يرغل- تېرے- تجاوز- ورختنه- (افغانستان)-
تعرضي:(تَ-عَر-ضي/تَ-عر-رُ-ضي)اسم- د تعرض سره متعلق-
تعرف:(تَ-عَر-رُف)اسم- پېژندګلو- تعارف- معرفي- بلدتيا- بلدېدنه- (م- عربي)-
تعريب:(تَع-ريب)اسم- (۱)د غير عربي ژبې توري عربي کونه- (۲)عربي کښې ترجمه کونه- (م- عربي)-
تعريف:(تَع-ريف)اسم- (۱)صفت- مدح- ستائنه- خوبي- (۲)شناخت- پېژندګلي- دَ يو څيز جامع او مانع معنى-
تعريفنامه:(تَع-ريف-نا-مه)اسم- هغه کتاب چې دَ سامان او وسلې دَ استعمال او دَ هغې نه دَ فائدې اخستو بيان پکښې ليکلے شوے وي- (افغانستان)- (م- عربي)-
تعريفول:(تَع-ري-ف-ول)مصدر متعدي- (۱)پېژندګلي کول- صفت او ستائنه کول- (۲)تشريح کول- حقيقت بيانول- (افغانستان)- (م- عربي)-
تعزيت:(تَع-زي-يت)اسم- غمخواري- خواخوږي- دَ مړي دَ پسماندګانو سره د همدردي اظهار-
تعزير:(تَع-زير)اسم- (۱)رټنه- غندنه- ملامتونه- تاوان- ګوشمالي- هغه سزا چې پهٔ قرآن شريف کښې ئې ذکر نهٔ وي او د قاضي پهٔ خوښه ورکولے کيږي- (۲)دمکه- دړکه- (م- عربي)-
تعزيرات:(تَع-زي-رات)اسم- (۱)د تعزير جمع- (۲)د فوځ دارۍ د قانون

ئ: (ځي-رل)، ي:(مي-ره-ول)، ئ:(پيا-لي)، ېر:(تين-دې) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

کتاب- (م- عربی)-

تعزیرول:(تع-زی-رول)مصدر متعدی- غندل- رټل- ملامتول- (افغانستان)-

تعزیری:(تع-زی-ری)اسم- د تعزیر سره متعلق-

تعزیه:(تع-زی-یه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)غم زاری- تعزیت- (۲)د امام حسین علیه السلام د قبر نقل چې د شیعه مذهب پیروکاران یې د کاغذ او سانیس نه جوړوی او د یادګیرنې په توګه یې محرم کښې د جلوس په صورت ګرځوی-

تعزیه دار:(تع-زی-یه-دار)اسم صفت- (۱)عمژن- (۲)تعزیه ایستونکے- (م- عربی)-

تعزیه داری:(تع-زی-یه-دا-ری)اسم- د تعزیه دار کېدو حالت-

تعصب:(تع-عص-صب)اسم- (۱)مرسته- طرفداری- ننګه- مروه- په ګډه ټینګېدنه- (۲)کرکه- کینه- بغض-

تعطل:(ت-عط-طل)اسم- اتهلېدنه- ماتل کېدنه- وزګارېدنه- بېکاری- معطل کېدنه- (م- عربی)-

تعطیل:(تع-طیل)اسم- (۱)رخصت- چټی- چوټی- (۲)وزګارتیا- بېکاری- (م- عربی)-

تعطیلول:(تع-طی-ل-ول)مصدر متعدی- (۱)بېکاره پاتې کېدل- (۲)رخصول- (۲)کار ودرول- معطول- اماتول- خندول- (افغانستان)-

تعظیم:(تع-ظیم)اسم- لوی والے- ستروالے- ادب- عزت- دارمدار- خاطر- (۲)درښت- احترام- (م- عربی)-

تعفن:(ت-ع-فن ت-عف-فن)اسم- (۱)تیم- ووم- سخا بوئی- (۲)بدبویه کېدنه- سخا- خوسکه- (م- عربی)-

تعقل:(ت-ع-قل ت-عق-قل)اسم- (۱)هوښیارتیا پیدا کونه- عقل لرنه- (۲)غور کونه- (۲)عقلیت پسندی (م- عربی)-

تعقیب:(تع-قیب)اسم- (۱)پسې تلنه- څارنه- (۲)د لمانځه نه پس د وظیفې د پاره ناسته- (۳)هغه دعاګانې چې د لمانځه نه پس ویلې شی- (۴)څنبونه (م- عربی)-

تعقیبول:(تع-قی-به-ول)مصدر متعدی- (۱)تعقیب کول- څارل- څار کول- (۲)پیروی کول- پسې تلل- (افغانستان)- (م- عربی)-

تعقیبېدل:(تع-قی-بې-دل)مصدر لازم- تعقیب کېدل- څارلے کېدل- (افغانستان)- (م- عربی)-

تعقید:(تع-قید)اسم- (۱)غټه ورکونه- (۲)په شعرونو کښې توری داسې په ثقالت مخکښې وروستو کونه چې د یو ځاي توري بل ځاي ته ورسی او مطلب یې واضح نه وی- د مضمون او مفهوم داسې ادا کونه چې وضاحت یې وه نه شی-

تعلق:(ت-عل-لق تع-لق)اسم- (۱)مړوز- تړاو- پېوستون- اړوتړه- اړه- تعلقه- سریکار- واسطه- (۲)خپلوی- رشته- (۲)مناسبت- (۴)مینه- مېلان- رغبت- جمع تعلقات- (م- عربی)-

تعلقدار:(تع-لق-دار ت-عل-لق-دار)اسم صفت- مذکر- (۱)تعلق لرونکے- تعلق ساتونکے- وګورئ تعلق- (۲)زمیندار- لوی زمیندار- د هندوستان زمیندار- (م- عربی)-

تعلقداری:(تع-لق-دا-ری ت-عل-لق-دا-ری)اسم- (۱)د تعلقدار کېدو حالت- (۲)د تعلقدار جائېداد- هغه زمکه چې د یو تعلقدار په قبضه کښې وی-

تعلقه:(ت-عل-ل-قه)اسم- (۱)ضلع- علاقه- (۲)قبضه- (۲)ملکیت- جائېداد- جاګیر- تعلقداری- (م- عربی)-

تعلقه:(ت-عل-ل-قه)اسم- وګورئ تعلق-

تعلم:(ت-عل-لم)اسم- زده کونه- د علم لستنه- (م- عربی)-

تعلی:(ت-عل-لی تع-لی)اسم- (۱)لوړتیا- لاپې- ډوزې- بډائی- (۲)د شاعری په اصطلاح کښې هغه وینا چې شاعر پکښې فخریه خپل لوئې والے وائی- (م- عربی)-

تعلیق:(تع-لیق)اسم- ځړونه- یو متن سره د یو عالم سری تشریحی نوټ- جمع تعلیقات- (م- عربی)-

تعلیم:(تع-لیم)اسم- واحد- مذکر- زدکړه- علم حاصلونه- لیکنه لستنه- جمع تعلیمونه- (م- عربی)-

تعلیم یافته:(تع-لیم-یاف-ته)اسم- تعلیم موندونکے- (م- فارسی)-

تعلیمی:(تع-لی-می)اسم- د تعلیم سره متعلق- وګورئ تعلیم-

تعمیر:(تع-میر)اسم- واحد- مذکر- (۱)ودانونه- ابادونه- (۲)ودانی- ابادی- کور- مننه- جمع تعمیرونه تعمیرات-

تعمیرات:(تع-می-رات)اسم- عمارتونه- (م- عربی)-

تعمیراتی:(تع-می-را-تی)اسم- د تعمیرات سره متعلق- وګورئ تعمیر-

تعمیری:(تع-می-ری)اسم- د تعمیر سره متعلق- وګورئ تعمیر-

تعمیل:(تع-میل)اسم- (۱)عمل کونه- کړه کونه- حکم منه- (۲)فرمانبرداری- (م- عربی)-

تعمیم:(تع-میم)اسم- (۱)رواجونه- (۲)مشهوروونه- خوروونه- عامونه- پالونه-

تعوذ:(ت-عو-وذ)اسم- اعوذ بالله ویینه- له شیطانه د خدای تعالی پناه غوښتنه- (م- عربی)-

تعویذ:(تع-ویذ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ تاویذ- جمع تعویذونه- (م- عربی)-

تعویق:(تع-ویق)اسم- شا ته غورځونه- ټالونه- (م- عربی)-

تعهد:(ت-ع-هد ت-عه-هد)اسم- (۱)ژبه- لوظ- وعده- قول- په غاړه اخستنه- په ذمه اخستنه- سینه ټیرونه- (م- عربی)-

تعیش:(ت-عی-یش)اسم- مزه ژوندون- خوشحالی او عیش کښې ژوند تېرونه-

تعین:(ت-ع-ین ت-عی-ین)اسم- (۱)ماکمه- مقررونه- ټاکلے کېدنه- غور کېدنه- مشخص کېدنه- مخصوص کېدنه- (۲)د تصوف په اصطلاح کښې په موجوداتو کښې فرق کونه- (م- عربی)-

تعین:(ت-عین)اسم- ټین- مقررونه- ټاکنه- (م- عربی)-

www.pukhto.net

تعینات:(تَ-عَیِّ-ی-نات)اسم- تقرری- ټاکنې- انتخابېدونې- غوره کېدنې- (م- عربي)-

تعیناتي:(تَ-عَیِّ-ی-نا-تي)اسم- تقرري- تقرر- د سرکاري ملازم په یو ځای مقررونه- تبدیل-

تعینول:(تَ-عَیِّ-یَ-ن-وَل)مصدر متعدي- مقررول- ټاکل- غوره کول- منتخب کول- (افغانستان)-

تغ:(تَغ)اسم- واحد- مذکر- د اُسپنې ټوټې- د اُسپنې خول-

تغ:(تَغ)اسم صوت- (۱)شم- شخ- په هوا کښې د ټوپک د مردکو یا ګولیو د تېرېدو اواز- (۲)د غوږني د وریتولو اواز-

تغ:(تغ)اسم- واحد- مذکر- (۱)نشان- علم- بېرغ- جنډه- توغ- (۲)د زیارت یا د مړي د قبر جنډه- جمع تغونه یا تغان- (م- فارسي)-

تغاده:(تَ-غا-ده)اسم- (۱)چا ته غصه کونه- قهر کونه- ټېکه درکه کونه- (۲)ضد کونه- په خبره اړه کېدنه- جمع تغادې-

تغار:(تَ-غار)اسم- واحد- مذکر- لوی بټلک- د خاورو لوی لوښے- تغارے- جمع تغارونه-

تغارګ:(ت-غا-رګ)اسم صفت- تاغارګ- تنګی بیمار- تنده عرې- د چل مریض-

تغاري:(ت-غا-ري)صفت- وګورئ تغارے-

تغاري:(تَ-غا-ري)اسم- خاورین لوښے- تالے- مجمه-

تغارے:(ت-غا-رے)اسم صفت- (۱)کېډو- کډوړ- (۲)تاغارے- تغارګ- تغاري-

تغافل:(تَ-غا-فُل)اسم- غفلت- بې خبري- بې پرواني- (م- عربي)-

تغرے:(تغ-ر-رے)اسم- ښارے- یو مارغه چې باز ې په مېنه خوري-

تغديه:(تغ-دي-يه)اسم- خوراک ورکونه-

تغرول:(تغ-ړ-ول مصدر متعدي- تمرول-

تغړول:(تغ-ړ-ول)مصدر متعدي- توغرول- په خاورو کښې راګښل- لغړول-

تغرولے:(تغ-ر-وَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تغرولي- مؤنث تغړولې- وګورئ تغړول-

تغړولے:(تَغ-ړ-وَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تغړولي- مؤنث تغړولې- وګورئ تغړول-

تغړون:(تغ-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ تغړول-

تغړون:(تغ-ړ-ون)حاصل مصدر- وګورئ تغړول-

تغړونکے:(تغ-ړ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تغړونکي- مؤنث تغړونکې- وګورئ تغړول-

تغړونکے:(تَغ-ړ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تغړونکي- مؤنث تغړونکې- وګورئ تغړول-

تغړونګ:(تغ-ړ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تغړول-

تغړونګ:(تَغ-ړ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تغړول-

تغړونه:(تغ-ړ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ تغړول-

تغرونه:(تغ-ر-ونه)حاصل مصدر- وګورئ تغرول-

تغزل:(تَ-غَز-زُل)اسم- (۱)غزل ویینه- عشقیه مضامین د اثر او تاثیر سره نظم کونه- (۲)غزلیت- د غزل خصوصیات- (م- عربي)-

تغلب:(تَ-غَل-لُب)اسم- غبن- خیانت- بې ځایه تصرف- (م- عربي)-

تغلیط:(تَغ-لیط)اسم- غلطونه- یو څیز باندې د غلط حکم لګونه-

تغلیظ:(تَغ-لیظ)اسم- د مانع څیزونو ټینګونه- (م- عربي)-

تغمه:(تغ-مه)اسم- واحد- مؤنث- دغمه- د چابک یا لښتې د ګوزار نښه- جمع تغمې-

تغمه:(تغ-مه)اسم- واحد- مؤنث- د تمغه بل مرات- تمغه- عزت- تعبري- اعزاز- جمع تغمې-

تغند:(تَ-غند)اسم- په مېره او په ناوې تېرېدونکے- (افغانستان)-

تغندي:(تَ-غن-دي)اسم- واحد جمع- مؤنث- کاسه- کوندي- یو قسم لوښے-

تغندے:(تَ-غن-دے)اسم- راکټ- (افغانستان)-

تغنول:(تغ-ن-وَل)مصدر متعدي- وریتول- تغول- سره کول- په غوړو کښې یو څیز سره کول یا کباب په اور کښې ورتول-

تغنولے:(تغ-ن-وَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تغنولي- مؤنث تغنولې- وګورئ تغنول-

تغنون:(تَغ-ن-ون)حاصل مصدر- وګورئ تغنول-

تغنونکے:(تَغ-ن-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تغنونکي- مؤنث تغنونکې- وګورئ تغنول-

تغنونګ:(تغ-ن-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تغنول-

تغنونه:(تغ-ن-ونه)حاصل مصدر- وګورئ تغنول-

تغو:(تَ-غو)اسم- واحد- مذکر- د اینځر ونه او مېوه- نباتاتي نوم د پاره وګورئ اینځر- جمع تغوان تغوګان-

تغول:(تَ-غ-ول)مصدر متعدي- (۱)په خرابو غوړیو کښې خراب سره کول- (۲)غرڅول- لوی ټوپل- ټوغول- ارساوول- اړناوول-

تغولے:(تَ-غ-وَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تغولي- مؤنث تغولې- وګورئ تغول-

تغون:(تَ-غ-ون)حاصل مصدر- وګورئ تغول-

تغوندے:(تَ-غون-دے)اسم- واحد- مذکر- توغندے- راکټ- (افغانستان)- جمع تغوندي-

تغونکے:(تَ-غ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تغونکي- مؤنث تغونکې- وګورئ تغول-

تغونګ:(تَ-غ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تغول-

تغونه:(تَ-غ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ تغول-

تغوو:(تَ-غ-وو)اسم- واحد- مذکر- توغ- نشان- بېرغ- جنډه- عَلَم- جمع تغوونه-

تغیر:(تَ-غیر)اسم- تبدیل- تغیر- بدلون- (م- عربي)-

ئ: (ځی-ړل) ي: (مي-ره-ول)، ی: (پیما لی)، ې: (ښ-دې) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

تغیر:(ت-غیر)اسم- واحد- مذکر- تاغیر- بدلون- اوښتنه- بدلېدنه- (عام طور سره د مخ د رنګ د پاره استعمالیږي)- (م- عربي)-

تغیر:(ت-غي-یر)اسم- اوښتنه- بدلېدنه- (م- عربي)-

تغیرول:(ت-غي-ي-ر-ول)مصدر متعدي- بدلول- اړول- د یو حال نه بل حال ته راوستل- (افغانستان)-

تغیرېدل:(ت-غي-ي-رې-دل)مصدر لازم- بدلېدل- اوړېدل- اوښتل- د یو حالت نه بل حالت ته اوړېدل-

تغېدل:(ت-غې-دل)مصدر لازم- الوځول- الوتل- پرواز کول-

تغېدلے:(ت-غې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تغېدلي- مؤنث تغېدلې- وګورئ تغېدل-

تغېدن:(ت-غې-دن)حاصل مصدر- وګورئ تغېدل-

تغېدنګ:(ت-غې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تغېدل-

تغېدنه:(ت-غې-ده-نه)حاصل مصدر- وګورئ تغېدل-

تغېدونکے:(ت-غې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تغېدونکي- مؤنث تغېدونکې- وګورئ تغېدل-

تغېده:(ت-غې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ تغېدل-

تف:(تف)کلمهٔ نفرت- (۱)تو- تو لعنت- د لعنت او ملامت د اظهار کلمه- (۲)توکاڼې- (م- فارسي)-

تفاخر:(ت-فا-خر)اسم- فخر کونه- مباهي- وياړ- (م- عربي)-

تفاریق:(ت-فا-ریق)اسم- (۱)د تفریق جمع- تفرقې- بېلتونونه- جدايي- (۲)وقفې- (۳)قسطونه- (م- عربي)-

تفاسیر:(ت-فا-سیر)اسم- (۱)د تفسیر جمع- تشریحات- وضاحتونه- (۲)اصطلاحاً د قرآن شریف شرحې- (م- عربي)-

تفاصیل:(ت-فا-صیل)اسم- د تفصیل جمع- (۱)بېلونه- ټکرې ټکرې کونه- (۲)پوره بیانونه- تشریح بیانونه- (۳)پوښتونه- (۴)کیفیات- (م- عربي)-

تفاوت:(ت-فا-وت)اسم- (۱)فرق- توپیر- وټ- فاصله- لرې والے- (۲)جدائي- امتیاز- (م- عربي)-

تفاهم:(ت-فا-هم)اسم- درک کونه- د یو بل په مقصد پوهېدنه-

تفتیش:(تف-تیش)اسم- (۱)تفشیش- پلټنه- لټونه- شننه- کتنه- څېړنه- تلاش- (۲)تپوس- پوښتنه- (۳)سراغ- (م- عربي)-

تفچاق:(تف-چاق)اسم- د ښهٔ نسل آس-

تفحص:(تفح-حص)اسم- تپوس- پوښتنه- شننه- لټون- (م- عربي)-

تفرج:(ت-فر-رج)اسم- (۱)سېل- (۲)خوشحالي- راحت-

تفرع:(ت-فر-رع)اسم- څانګه وتنه- ښاخ وتنه- مهرکے وهنه- (م- عربي)-

تفرقه:(تف-ر-قه)اسم- بېلون- جدائي- بې اتفاقي- نزر- د دوو څیزونو په مینځ کښې بېلوالے- (م- عربي)-

تفریح:(تف-ریح)اسم- (۱)سېل- ساتېري- (۲)خوشحالي (۳)دمه- (۴)رخصت- جمع تفریحونه تفریحات-

تفریحا:(تف-ری-حن)اسم- په ټوقو ټوقو کښې- د خندا په توګ- (م- عربي)-

تفریحي:(تف-ری-حي)اسم- د تفریح سره متعلق- وګورئ تفریح-

تفریس:(تف-ریس)اسم- د یوې ژبې تورې فارسي کونه- (م- عربي)-

تفریط:(تف-ریط)اسم- (۱)کمے- لږوالے- لږتیا- (۲)کارونه- بې پروائي- غفلت- (۳)د مال ضائع کونه- (م- عربي)-

تفریق:(تف-ریق)اسم- (۱)بېلونه- بېلتون- فرق- (۲)وټ- تفاوت- (۳)اختلاف-

تفریقول:(تف-ری-ق-ول)مصدر متعدي- (۱)بېلول- جدا کول- (۲)لږول- کمول- نفي کول- لږې کول-

تفریقون:(تف-ری-ق-ون)حاصل مصدر- وګورئ تفریقول-

تفریقونکے:(تف-ری-ق-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تفریقونکي- مؤنث تفریقونکې- وګورئ تفریقول-

تفریقونګ:(تف-ری-ق-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تفریقول-

تفریقونه:(تف-ری-ق-ونه)حاصل مصدر- وګورئ تفریقول-

تفسیر:(تف-سیر)اسم- واحد- مذکر- جمع تفاسیر تفسیرونه- وګورئ تفاسیر-

تفسیرول:(تف-سي-ر-ول)مصدر متعدي- (۱)تشریح کول- بیانول- څېړل- څرګندول- جوتول- ښکاره کول- واضح کول- د کلام معنٰی بیانول- (۲)د قرآن کریم د آیتونو شرح کول-

تفسیرېدل:(تف-سي-رې-دل)مصدر لازم- (۱)تشریح کېدل- بیانېدل- څېړل کېدل- څرګندېدل- جوتېدل- ښکاره کېدل- واضح کېدل- د کلام معنٰی بیانېدل- (۲)د قرآن کریم شرح کېدل-

تفشیش:(تف-شیش)اسم- وګورئ تفتیش-

تفصیل:(تف-صیل)اسم- واحد- مذکر- جمع تفاصیل- وګورئ تفاصیل- (م- عربي)-

تفصیلي:(تف-صي-لي)اسم- د تفصیل سره متعلق- مفصل-

تفضیل:(تف-ضیل)اسم- لوړ ګڼنه- یو څیز د بل نه ښهٔ ګڼنه- فضیلت ورکونه- لوی والے- (م- عربي)-

تفقه:(ت-فق-قه)اسم- (۱)په علم فقه پوهېدنه- (۲)عقلمند کېدنه- (م- عربي)-

تفکر:(ت-فک-کر ت-فک-کر)اسم- فکر کونه- سوچ کونه- فکر- سوچ- اندېښنه- خیال- د فکرونو تر مینځ د رابطو بنیاد- د کلمو په وسیله د ذهني عمل اظهار- (م- عربي)-

تفنګچه:(ت-فنګ-چه)اسم تصغیر- تومانچه- تمانچه- تماچه- د تفنګ اسم تصغیر-

تفنن:(ت-فن-نن ت-فن-نن)اسم- (۱)یو کار یا هنر په بېلو بېلو طریقو سر ته رسونه- (۲)سېل- تفریح- عیاشي- مشغله-

تفنن طبع:(ت-فن-نن-طب-ع)اسم- خوشحالي- خندا- د مشغلې په طور- (م- عربي)-

تفوق:(ت-فو-وق ت-فو-وق)اسم- (۱)برتري او لوړوالے غښتنه- لوړېدنه-

www pukhto net

(۲)ترقیت موندنه- زیاتوالے- (م- عربي)-

تفویض:(تف-ویض)اسم- سپارنه- کار یا څۀ څیز دَ چا تر غاړې کونه- (م- عربي)-

تفهم:(تَـ-فه-هُم)اسم- پوهېدنه- (م- عربي)-

تفهیم:(تَف-هیم)اسم- پوهونه- فهمونه- (م- عربي)-

تقابل:(ت-قا-بل)اسم- مقابله- مخامخ کېدنه- ودرېدنه- برابر کېدنه- (م- عربي)-

تقاریر:(ت-قا-ریر)اسم- د تقریر جمع- (۱)بیانونه- وېناګانې- دکړونه- (۲)بحثونه- مباحثې- (م- عربي)-

تقاضا:(ت-قا-ضا)اسم- طلب- غښتنه- حاجت- ضرورت- خواهش- جمع تقاضې- (م- عربي)-

تقاعد:(ت-قا-عد)اسم- لۀ کاره ایستنه- لرې کېدنه- ناسته- (م- عربي)-

تقاوي:(ت-قا-وي)اسم- د حکومت له خوا حقدارو خلقو ته د امداد پۀ طور ورکړې شوې قرضې- امدادي رقم- (م- عربي)-

تقبیح:(تق-بیح)اسم- غندنه- بد وینه- سخه بیانونه-

تقبیحول:(تق-بي-ح-ول)مصدر متعدي- غندل- بد ویل- (افغانستان)-

تقدس:(تـ-ق-دس ت-قد-دس)اسم- (۱)پاکېدنه- لۀ عیبه پاکېدنه- (۲)پاکوالے- سپېڅلوالے- (۳)پاکي- پرهېزګاري-

تقدم:(تـ-ق-دم ت-قد-دم)اسم- وړاندې والے- مخکښې توب-

تقدیر:(تق-دیر)اسم- (۱)اندازه- مېچ کونه- (۲)نېټه- (۳)دَ خدای تعالٰی حکم- (۴)برخه- نصیب- قسمت-

تقدیرنامه:(تق-دیر-نا-مه)اسم- ستائنلیک- (افغانستان)-

تقدیرول:(تق-دي-ر-ول)مصدر متعدي- قدرول- ستائل- قدر کول- درونډ ګڼل- دَ عزت پۀ سترګه چا ته کتل- تقدیر ورکول-

تقدیري:(تق-دي-ري)اسم- (۱)قسمتي- د تقدیر سره متعلق- (۲)ناڅاپي- ناګهانه- بې پروګرامه-

تقدیس:(تق-دیس)اسم- پاکوالے- سپېڅلتیا- پاکي- پاکیزګي- مقدس والے- (م- عربي)-

تقدیم:(تق-دیم)اسم- (۱)پېل- وړاندې کونه- (۲)فوقیت-

تقدیمول:(تق-دي-م-ول)مصدر متعدي- وړاندې کول- مخکښې کول-

تقر:(ت-قر)اسم- دَ قره قل دَ پوستکي یو خاص پول- (افغانستان)-

تقرب:(تـ-ق-رب ت-قر-رب)اسم- (۱)نژدېکت- نژدې والے- (۲)خپلولي- (م- عربي)-

تقرر:(تـ-ق-رر ت-قر-رر)اسم- مقررېدنه- ټاکلے کېدنه- ټاکنه- مقررونه- لګونه- مقرریا- (م- عربي)-

تقرري:(ت-ق-ر-ري ت-قر-ر-ري)اسم- د تقرر کېدو حالت- وګورئ تقرر-

تقریب:(تق-ریب)اسم- (۱)نژدېکت- نژدې والے- (۲)سبب- وجه- ذریعه- موقع- (۳)دَ څۀ رسم یا وادۀ ښادۍ پۀ موقع غونډه- (م- عربي)-

تقریر:(تق-ریر)اسم- واحد- مذکر- جمع تقاریر- وګورئ تقاریر-

تقریري:(تق-ري-ري)اسم- زباني- پۀ خلۀ- دَ تحریري خلاف-

تقریظ:(تق-ریظ)اسم- (۱)ستائنه- مدح کونه- (۲)څرګندونه- نظریه- رائې- تبصره- دَ چا پۀ لیک، مضمون یا پۀ کتاب خپل نظر او رائې ښکاره کونه- (م- عربي)-

تقسیم:(تق-سیم)اسم- (۱)وېش- وېشنه- ونډ- برخه- (۲)صف بندي- (م- عربي)-

تقسیمول:(تق-سي-م-ول)مصدر متعدي- (۱)وېشل- برخې برخې کول- ونډې ونډې کول- (۲)پۀ ریاضي کښې یو عدد پۀ بل عدد باندې وېشل-

تقسیمون:(تق-سي-م-ون)حاصل مصدر- وګورئ تقسیمول-

تقسیمونکے:(تق-سي-م-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تقسیمونکي- مؤنث تقسیمونکې- وګورئ تقسیمول-

تقسیمونه:(تق-سي-م-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ تقسیمول-

تقسیمېدل:(تق-سي-مې-دل)مصدر لازم- (۱)تقسیم کېدل- وېشلے کېدل- برخې برخې کېدل- (۲)دَ حساب پۀ قاعدو کښې یو عدد پۀ بل تقسیم کېدل-

تقسیمېدن:(تق-سي-مې-دن)حاصل مصدر- وګورئ تقسیمېدل-

تقسیمېدنه:(تق-سي-مې-دۀ-نه)حاصل مصدر- وګورئ تقسیمېدل-

تقسیمېدونکے:(تق-سي-مې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تقسیمېدونکي- مؤنث تقسیمېدونکې- وګورئ تقسیمېدل-

تقسیمېدۀ:(تق-سي-مې-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ تقسیمېدل-

تقصیر:(تق-صیر)اسم- واحد- مذکر- قصور- خطا- ګناه- کمے- جمع تقصیرونه- (م- عربي)-

تقصیروار:(تق-صیر-وار)صفت- مذکر- قصوروار- ګناه کار- خطا کونکے- (م- عربي)-

تقطیع:(تق-طیع)اسم- ټکړې ټکړې کونه- دَ علمِ عروض پۀ اصطلاح کښې دَ شعر اجزا پۀ داسې طریقه پۀ وزن برابرونه چې د متحرک پۀ مقابله کښې متحرک او د ساکن پۀ مقابله کښې ساکن حرف راشي- (م- عربي)-

تقلید:(تق-لید)اسم- پېښې- نقل- پېروي- بې سوچه پۀ چا پسې تلنه-

تقلیدي:(تق-لي-دي)اسم- د تقلید سره متعلق- وګورئ تقلید-

تقلیل:(تق-لیل)اسم- لږونه- راټیټه کونه- راکوزونه- (م- عربي)-

تقنین:(تق-نین)اسم- قانون لیکنه- قانون وضع کونه- قانون ټکنه- لار جوړونه- لار ایستنه-

تقنیني:(تق-ني-ني)اسم- (۱)قانوني- د قانون- قانون سره تړلے- پۀ قانون برابر- هغه کار چې پۀ قانون سم وي او قانوني وجه لري-

تقوا:(تق-وا)اسم- تقوی- پرهېزګاري- لۀ خدایه وېرېدنه او لۀ ګناهونو ځان ژغورنه- (م- عربي)-

www.pukhto.net

تقوادار :(تق-وا-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- پرهيزګار- پرهيزګاره- له خدايه ويرېدونکے- د شريعت او خدایٔ له خوا د منع شوو کارونو څخه ډډه او پرهيز کونکے-

تقوی:(تق-وا)اسم- وګورئ تقوا- (م- عربی)-

تقويت :(تق-وی-يت)اسم- قوت ورکونه- قوی کونه- طاقت- قوت- زور- مدد- مرسته- ملاتړ- تسلی- ډاډ-

تقويم:(تق-ويم)اسم- (۱)جنتری- کليزه- (۲)بيه کونه- بيه ايښونه- قيمت معلومونه- (۳)سمونه- کوروالے ايسته- (۴)د کال وېشنه په مياشتو، ورځو او ورځو-

تـقـويـه :(تـق-وی-يـه)اسـم- (۱)قـوی کـونـه- قـوت ورکـونـه- وده ورکـونـه- (۲)محکمونه- ټينګونه- کلکونه- استوارونه-

تقه:(ت-قه)اسم- واحد- مذکر- غټ سر لرونکے يو غشے-

تقی:(ت-قی)صفت- پرهيزګار- تقویٰ دار-

تک:(تک)اسم- منډه ترړه- جدوجهد-

تک:(تک)اسم- مولخ- ملخ- مچخ- جمع تکونه-

تک:(تک)اسم- تمام- بالکل- بېخي- ټول- سکټ- دا توری اکثر د څو رنګونو سره استعماليږی-

تک:(تک)اسم- تېکه- تېکے- علاف- نيام- (افغانستان)-

تک:(تُک)اسم- (۱)اندازه- جاج- اټکل- (۲)قافيه- فضول خبره- (۳)څوکه- د توری يا خنجر څوکه-

تکاڼوے:(ت-کا-ڼو-وے)اسم- منډی ترړی- منډی رامنډی-

تکاثر:(ت-کا-ثر)اسم- (۱)ډېروالے- زياتېدنه- ډېرېدنه- زياتوالے- (۲)د مال دولت په زياتي فخر کونه- (م- عربی)-

تکاثف:(ت-کا-ثف)اسم- ټينګېدنه- خټه کېدنه- غليظېدنه-

تکاره:(ت-کا-ره)اسم- واحد- مؤنث- تکره- اوار او مهين کاڼے- ښوے کاڼے-

تکامل:(ت-کا-مل)اسم- کاملېدنه- (م- عربی)-

تکاملی:(ت-کا-م-لی)اسم- د تکامل سره متعلق- وګورئ تکامل-

تکبر:(ت-کبر ت-کب-بر)اسم- کبر- غرور- لوئی- ځان ښونه- ځان لوړ ګڼنه-

تک بند:(تک-بند)صفت- مذکر- دوړه مار- بې وزنه او بې قافيې شعرونه ويونکے-

تک بندی:(تک-بن-دی)اسم- دوړه ماری- ور غړ برابرونه- چټی غوپېدنه- بې وزنه بې قافيې او بې دريغه شعرونه وئيله-

تکبير:(تک-بير)اسم- الله اکبر وئيله- خدایٔ پاک په لويي سره يادونه-

تک توکينے:(تک-تو-کی-نے)اسم- واحد- مذکر- توردلے- رمحومکے- شينغوړے- سليماني مارغه- يو قسم مارغه- جمع تک توکيني-

تکتکانے:(تک-ت-کا-نے)اسم- ګډه زن- ترکاڼ- يوه مرغۍ چې ونې ټکوی-

تـکـتـکـے:(تـک-ت-کـے)اسم- واحد- مذکر- (۱)د ماشومانو يوه لوبه- (افغانستان)- (۲)هغه اله چې د ژرندې ناوې نه دانې راتوييږي- ټکټکے-

تکذيب:(تک-ذيب)اسم- دروغ ګڼنه- په بل باندی د دروغو تړنه- د دروغو الزام لګونه- (م- عربی)-

تکذيبول:(تک-ذی-ب-ول)مصدر متعدی- دروغ ګڼل- دروغژنول- دروغ بلل- دروغ کول- (افغانستان)-

تکذيبېدل:(تک-ذی-بې-دل)مصدر لازم- دروغژنېدل- دروغ ګڼل کېدل- دروغېدل-

تکرار :(تک-رار)اسم- واحد- مذکر- (۱)بيا بيا وينا- (۲)بحث- (۳)جګړه- (۴)د علم بديع په اصطلاح کښې قافيه، مضمون يا مصرعه بيا بيا راوستنه-

تکرارول:(تک-را-رول)مصدر متعدی- (۱)بيا بيا وئيل- دوباره وئيل- يو کار يا يوه خبره يو ځل يا څو څو ځله کول- (۲)خبرې اړول-

تکراری:(تک-را-ری)اسم صفت- (۱)تکرار کونکے- (۲)جنګيالے- جګړمار- (۳)تکرار سره متعلق-

تکرخور :(ت-کر-خور)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ټکړې خوړونکے- (۲)در په در ګرځېدونکے-

تکريم:(تک-ريم)اسم- (۱)مهمانځنه- درنونه- عزت ورکونه- ادب کونه- (۲)خاطر تواضع- (م- عربی)-

تکړی :(تک-ړی)اسم- واحد جمع- مؤنث- د ټوکری پل قراټ-

تکړښت:(تک-ړښت)اسم- تکړه والے- تکړه توب-

تکړه :(تک-ړه)اسم- تکاړه- اوار کاڼے- ښويه کاڼے- مهين کاڼے- (افغانستان)-

تکړه:(تک-ړه)اسم صفت- واحد جمع- مذکر مؤنث- مضبوط- پهلوان- تورزن- چست- ځربه- (۲)بهادر- نر- (۳)قابل- ذهين- لايق-

تکړه توب:(تک-ړه-توب)اسم- (۱)تکړه توب- تکړه والے- تکړه والے- زړبښت- ځربوالے- تندرستی- (۲)بهادری- نرتوب- (۳)قابليت- لياقت-

تکړه تيار:(تک-ړه-تيار)صفت- واحد جمع- مذکر- (۱)روغ رمټ- چست چالاک- (۲)حاضر- تابعدار-

تکړه والے:(تک-ړه-وا-لے)اسم- وګورئ تکړه توب-

تکړی:(ت-ک-ړی)اسم- واحد جمع- مؤنث- تکړے- ټوټه- پيوند- ټيکړی- ټوټه- د جامو پيوند- تکړی-

تکفير :(تک-فير)اسم- (۱)پټونه- (۲)کفاره ورکونه- (۳)کافرونه- کافر ګڼنه- کفر ته منسوبونه- (م- عربی)-

تکفين:(تک-فين)اسم- مړی ته کفن ورکونه- په کفن کونه- مړی ته کفن وراغستنه- (م- عربی)-

تکل:(ت-کل)اسم- واحد- مذکر- (۱)اراده- کوشش- تلاش- لټون- (۲)د سفر نيت- د سفر اراده- (۳)يو ادبی صنف- جمع تکلونه-

تک لاسے:(تک-لا-سے)اسم صفت- واحد- مذکر- چست چالاک- جمع تک لاسی- مؤنث تک لاسی- (افغانستان)-

تکلم:(ت-کل-لم)اسم- (۱)لګېدنه- ګنېدنه- خبرې کونه- (۲)وينا-

www.pukhto.net

خبري اثري- غوبدنه-

تکلیف:(تک-لیف)اسم- کړاؤ- زیاړ- خواری- ربړ- جنجال- (۱)مصیبت- غم- (۲)رنځ- بیماری- ناجوړتیا- ناروغتیا- (م- عربی)-

تکم:(ت-کم)اسم- واحد- مذکر- تخم- نسل- نژاد-

تکمه:(تک-مه)اسم- واحد- مؤنث- تعمه- تنۍ- غټۍ- بټن- جمع تکمې-

تکمیل:(تک-میل)اسم- پوره کونه- سر ته رسونه- ختمونه- مکملونه- پای ته رسونه- کمال ته رسونه- (م- عربی)-

تکمیلول:(تک-می-ل-ول)مصدر متعدی- سر ته رسول- مکملول- ختمول- پای ته رسول-

تکمیلېدل:(تک-می-لې-دل)مصدر لازم- پوره کېدل- سر ته رسېدل- مکملېدل- ختمېدل- پای ته رسېدل- (افغانستان)-

تکمیلېدنه:(تک-می-لې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ تکمیلېدل-

تکمیلېدهٔ:(تک-می-لې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ تکمیلېدل-

تکنیک:(تک-نیک)اسم- هنر- فن- (افغانستان)- (م- انګریزی)-

تکنه توب:(تک-نه-توب)اسم- د تکړه توب بل قرأت-

تکنه والی:(تک-نه-وا-لی)اسم- د تکړه والی بل قرأت-

تک و پو:(تک-و-پو)اسم- تحقیقات- جدوجهد- (کول مصدر)-

تکوڼ:(ت-کوڼ)اسم- واحد- مذکر- مثلث- دري ګوټیز- دری پریزه- جمع تکوڼونه- (م- هندی)-

تکوین:(تک-وین)اسم- پیدا کونه- پنځونه- د وجود ورکونه- (م- عربی)-

تکه:(ت-که)اسم- واحد- مؤنث- ټیکه- بوټی- د غوښې ټوټه- د غوښې ټوکړه- بې هډوکي غوښه- جمع ټکې-

تکه:(تک-که)اسم- واحد- مؤنث- تیره- غټ کاڼی- تړ- ګټ- جمع تکې-

تکه:(تَه-که)صفت- (۱)هغه څېزنې چې خپل ښوی نهٔ وی- (۲)ګُلی پنډه- شوني پندی- ابس پنډی- د ماشومانو یوه لوبه- (اسم)-

تکه:(ت-که)اسم- تیکه- تیکې- غلاف- پوښ- نیام- د توري یا چړې د ابیور د خرمنې ککوړه-

تکه تیارکه:(ت-که-تیا-رکه)اسم- تېزی- چلتی- بیړه- تلوار- تندی- چالاکی- چابکی-

تکیا:(تک-یا)اسم- واحد- مؤنث- تکیه- اسره- ډاډ-

تکیوان:(ت-کی-وان)اسم- وچه- اچه- هغه لرګی چې د مېوې د ونې لاندې ودرولی شي- ارم-

تکیه:(تک-یه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)فقیرخانه- (۲)د ملنګانو- چرسیانو او بنګیانو د ناستي ځای- (۲)باور- یقین- ډاډ- اعتماد- اسره- تکیا- (۴)بالښت- پښتی- متکه- ابه- بیه- جمع تکیه ګانې-

تکیه کلام:(تک-یه-ک-لام)اسم- هغه توری چې په خبرو کښې بار بار ویلی شي-

تکېدل:(ت-کې-دل)مصدر لازم- تپوکېدل- شینکی له زمکې را زرغونېدل- (افغانستان)-

تکېدلی:(ت-کې-دلی)صفت- وګورئ تکېدل-

تکېدن:(ت-کې-دن)حاصل مصدر- وګورئ تکېدل-

تکېدګ:(ت-کې-دګ)حاصل مصدر- وګورئ تکېدل-

تکېدنه:(ت-کې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ تکېدل-

تکېدونکی:(ت-کې-دون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تکېدونکي- مؤنث تکېدونکې- وګورئ تکېدل-

تکېدهٔ:(ت-کې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ تکېدل-

تکې:(ت-کې)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)غوږ نیونه- د چا خبره په زور او تکلیف اورېدنه- ټک کونه- (۲)دوره- جفت-

تګ:(تګ)اسم- رفتار- چلن- چلند- تله- تلنه- حرکت- یون-

تکا:(ت-کا)اسم- توان- طاقت- حوصله- همت- (افغانستان)-

تکاپو:(ت-کا-پو)اسم- جدوجهد- (م- فارسی)-

تګ را تګ:(تګ-را-تګ)اسم- امد و رفت- تلهٔ راتلهٔ- تلې راغلې- غم ښادی- معلو- رشته-

تکړی:(ت-کړی)اسم- واحد- مذکر- تیکړی- د زړي جامې ټوټه- جمع تکړي-

تکړۍ:(ت-کړۍ)اسم- وګورئ تکړی- جمع تکړۍ-

تګلی:(تګ-لی)اسم- واحد- مذکر- شینکی نهٔ لرونکی ډاګ- میره- بیابان- ډاګ- دښت- للمه- (افغانستان)-

تګ و پو:(تګ-و-پو)اسم- (۱)تکاپو- تګ و دو- کوشش- جستجو- (۲)تګ راتګ- خوئ خصلت- چال چلن- (م- فارسی)-

تګو پېره:(ت-ګو-پې-ره)اسم- تلنه راتلنه جمع تګو پېرې-

تګ و تاز:(ت-ګو-تاز)اسم- تګ- تلنه- (م- فارسی)-

تګ و دو:(ت-ګو-دو)اسم- منډه ترړه- هڅه- چل چلا- تګ و پو- کوشش-

تکیر:(ت-کیر)اسم- د اُبو د تقسیم بند- د اُبو د وېشلو بند- (افغانستان)-

تکی:(ت-کی)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)تبی- د کاڼي اواره تخته- هغه پلنه تیره چې دوړی پری پخولی شي- (۲)تبخی- (۳)تخته- توخه-

تکی تکی:(تَه-کی-تَه-کی)اسم صوت- تیغ تیغ- په میښه د ختلو د پاره د سنبا د پارولو اواز-

تل:(تل)اسم- (۱)اژورولی- (۲)تلی- (۳)تله- بیخ- (۴)د اُبو- تېلو یا بلې کومې مائع رښتلی- (۵)تکلوری مېره- (۶)د زمکې لویه پلنه ټوکړه- (۷)پخ- خوا- (۸)تلی- د کور انګڼ- کورنه-

تل:(تل)متعلق فعل- مدام- همېش- همېشه-

تل:(تل)اسم صفت- قوی- ضائع- عبث-

تل:(تل)اسم- لوی تالی- تال-

ټ" (ټی-رل)، ټ"(مي-ره-ول)، ټ"(پیا-لي)، ې"(تن-دی) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

تل:(تل)اسم- شین مصل- سبری-

تلاتوب:(تْ-لا-توبْ)اسم- (۱)ناقلاری- بې ارامي- (۲)هیجان- جوش-

تلازه:(ت-لا-زه)اسم- واحد- مؤنث- ترازه- قلی- تیلم- قاش- چمبه- تربشه- ترتې- دْ هندواڼي یا خربوزې ترازه- دره- جمع تلازې-

تلاړه:(ت-لا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- چیرړه- چیرړې- لیندارړه- ربنبه- ربنکی- ربنبانکه- د کهری لوبه از نرې ربنه- جمع تلاړې-

تلاش:(ت-لاش)اسم- (۱)لټون- لټونه- هڅه- خواهش- طلب- (۲)بیړه- تلوار- تادی- تندی- (افغانستان)- (م- فارسی)-

ملاښ:(ت-لا-ښي)اسم- لیون- پلیون- پلټنه- تالاشي-

تلاښ:(ت-لاښ)اسم- د "تلاش" بل قرأت-

تلاښي:(ت-لا-ښي)اسم- د "تلاشي" بل قرأت-

تلاطم:(تْ-لا-طُم)اسم- څپه- غُرځه- بلهاسکه- موج- جوش- جنګ جدل- (م- عربی)-

تلافي:(تْ-لا-في)اسم- بدله- صله- عوض- (م- عربی)-

تلاله:(ت-لا-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ دړکه-

تلانګه:(تْ-لانګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- دْ اواز راتعبيدنه- لنګي- ازانګه- جمع تلانګي-

تلاو:(ت-لاو)اسم- واحد- مذکر- تالاو- تالاب- دْ اُبو ښنډ- جمع تلاوونه- (م- فارسی)-

تلاوت:(ت-لا-وت)اسم- لُستنه- ونسه- د قرآن مجید لُستنه-

تلاوه:(تْ-لا-وه)اسم- (۱)ظلم- زیاتے- جور- جفا- زور زیاتے- (۲)تسمیه- بېدارونه- ویښونه- (۳)ګرمي- سخته ګرمي- جمع تلاوې-

تلاوې:(ت-لا-وې)اسم- هغه لوښے چې ښکېي د ګنې رَس جمع کیږي از بیا د هغې نه مور لوښو ته اچولے شي- جمع تلاوې-

تلانی:(تْ-لا-نی)اسم- واحد- مؤنث- تُړاني- توښه- تورشکه- جمع تلاياني

تلب:(ت-لب)اسم- تنخواه- مشاهره- (م- عربی طلب)-

تلبر:(تَل-بَر)اسم- (۱)لویٔ ښانګه- لګن- لویٔ تال- (۲)پهٔ ښانګه کښې پرتې وریژې چې پهٔ منځ کښې يې کوغالے وی-

تلبر:(تَل-بَر)اسم- واحد- مذکر- ترمور- د ترهٔ زوی-

تلبری:(تَل-بَ-ري)صفت- (۱)ګېډو- خېټو- ډېر خوراک کونکے- (۲)لنګری- باورچی-

تلبیس:(تل-بیس)اسم- (۱)پټونه- د جامي اغُستنه- (۲)چل- دوکه- ټګي- فریب- (۳)مشابهت-

تلپاچه:(تَل-پا-چه)اسم- واحد- مؤنث- تلپچه- چچه- چمچه- بلی- جمع تلپاچې-

تلپچه:(تل-پ-چه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ تلپاچه- جمع تلپچې-

تلپکه:(تل-پ-که)اسم- واحد- مؤنث- د کُلاه (کولې) د جوړولو د پاره استعمالېدونکې ساتی-

تل تتله:(تل-ت-تل-له)متعلق فعل- وګورئ تل ترتله-

تل ترتله:(تَل-تر-تَل-له)متعلق فعل- همېشه- شاندام- ارمېسه- تل تتله-

تلتک:(تَل-تک)اسم- واحد- مذکر- تولتک- بلستن- برستن- نالی- نیالی- شیرل- کنځو- (۲)کډه- کوړے- جمع تلتکونه-

تلخ:(تلخ)صفت- ترېخ- اشار- د شیرین ضد- (م- فارسی)-

تلخان:(تل-خان)اسم- جمع- مذکر- مُرمری- د غنمو دْ دانو پهٔ ګره کښې حور شوی غنهان-

تلخه:(تل-خه)اسم صوت- د مچیو د شړلو اواز-

تلخه:(تل-خه)صفت- د تلخ مؤنث- وګورئ تلخ-

تلخی:(تل-خی)اسم- ترېخوالے- تېزي-

تلخیص:(تل-خیص)اسم- خلاصه کونه- لنډونه- خلاصه- لنډيز- (م- عربی)-

تلذذ:(ت-لذ-ذذ)اسم- لذت اخستنه- خوند اخستنه- مزه اخستنه- (م- عربی)-

تلطف:(ت-لط-طف)اسم- مهرباني- نرمي- لورونه- لوروته- (م- عربی)-

تلغاک:(تل-غاک)اسم- (۱)الغو- شور- زوږ- (۲)باد او باران- طوفان- هغه باران چې ورسره سخته سیلی وی-

تلغمه:(تل-غُ-مه)اسم- واحد- مؤنث- جفاء جور- تېرے- ظلم- ځیځرنه- تېرغمے- جمع تلغمې-

تلغمی:(تل-غمي)اسم- تېرے- ظلم و ستم- تېرغمی- جور- جفاء

تلف:(ت-لف)صفت- (۱)برباد- لهٔ منځه تلے- ضائع- (۲)ورک- مړ- هلاک- (م- عربی)-

تلفظ:(ت-لف-فظ)اسم- (۱)خبرې کونه- بیان کونه- (۲)لفظ ادا کونه- د وینا طرز- د یو توری پهٔ درسته طریقه دْ ادا کولو طرز- (م- عربی)-

تلفول:(تْ-ل-فول)مصدر متعدی- تلف کول- (۱)ضائع کول- بربادول- لهٔ منځه وړل- لګول- خرڅ کول- (۲)ورکول- هلاکول- وژل- نشت کول- (افغانستان)-

تلفېدل:(تْ-ل-فې-دل)مصدر لازم- تلف کېدل- (۱)بربادېدل- ضائع کېدل- لهٔ منځه تل- (۲)مړهٔ کېدل- نیشت کېدل- ورکېدل- هلاکېدل-

تلفېدنه:(تْ-ل-فې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ تلفېدل-

تلفېدهٔ:(تْ-ل-فې-دهٔ)حاصل مصدر او دْ ماضی استمراری دْ واحد غائب صیغه- وګورئ تلفېدل-

تلقین:(تل-قین)اسم- وعظ کونه- نصیحت کونه- پند کونه- (م- عربی)-

تلکاری:(تل-کا-ری)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ترکاری-

تل کوکی:(تَل-کو-کي)اسم- واحد- مؤنث- همېشه ګل- هغه ګل چې همېشه وی-

تلکه:(تل-که)اسم- واحد- مؤنث- تلک- اړکی- د مرغانو نیولو پړکه- لپټه- پېرته- ګزکه- بنګی- کرکومه- کورکي- دْ مارغانو او نورو ځناورو دْ نیولو د پاره دْ لرګي یا اُسپنې دام-

تلکی:(تَل-کي)اسم تصغیر- واحد جمع- مذکر- ړوکي تله- تله کوټې-

تلکي:(تل-کي)اسم- واحد جمع- مؤنث- لمڅي- نمد-

تلل ١:(ت-لل)مصدر متعدي- جوکل- تول کول- وزن کول- په تله یا پیمانه جوکل-

تلل ٢:(تلل)مصدر- (١)له یوه ځایه بل ځای ته حرکت کول- (٢)مرکمدل- مړمدل-

تللی:(ت-لڼ-لی)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تللي- مؤنث تللې- وګورئ تلل ١-

تللی:(تلڼ-لی)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تللي- مؤنث تللې- وګورئ تلل ٢-

تلمتي:(تل-م-تي)اسم- واحد جمع- مؤنث- ترمتي- یو ښکاري تور مارغه-

تلمذ:(ت-لم-مذ)اسم- شاګردي- (م- عربي)-

تلمیح:(تل-میح)اسم- په شعر کښې یوې تاریخي واقعي ته اشاره کونه- جمع تلمیحات- (م- عربي)-

تلمید:(تل-مید)اسم- زده کړونی- زده کوونکی- شاګرد- جمع تلامده-

تلن:(ت-لن)حاصل مصدر- وګورئ تلل ١-

تلن:(تلن)حاصل مصدر- وګورئ تلل ٢-

تلنتار:(تلن-تار)اسم- شور- فریاد- غوغا- تانتار-

تلنګ:(ت-لنګ)حاصل مصدر- وګورئ تلل ١-

تلنګ:(تلنګ)حاصل مصدر- وګورئ تلل ٢-

تلنګی:(ت-لنګ-ګی)اسم- واحد- مذکر- د پیزار تلی- جمع تلنګي-

تلنه:(ت-له-نه)حاصل مصدر- وګورئ تلل ١-

تلنه:(تلنه)حاصل مصدر- وګورئ تلل ٢-

تلو:(ت-لو)اسم- واحد- مذکر- تالاب- د تالاو یل قرأت-

تلوار:(تل-وار)اسم- بیړه- تندی- جلتي- شتاب-

تلوارګرندی:(تل-وار-ګرن-دی)اسم صفت- واحد- مذکر- بیړندی- تلوار کندی- تلواري- بیړه کوونکی- جمع تلوارګرندي-

تلوارګندی:(تل-وار-ګن-دی)اسم صفت- واحد- مذکر- تلوارګرندی-

تلواري:(تل-وا-ري)اسم صفت- وګورئ تلوارګرندی-

تلواله:(تل-وا-له)اسم- همېشکي- د همشه د پاره- (افغانستان)-

تلوالی:(تل-وا-لی)اسم- همشکي- (افغانستان)-

تلوترک:(ت-لو-ت-رک)اسم- بې تابي- بې ارمي- تلوسه- (افغانستان)-

تلور:(ت-لور)اسم- واحد- مذکر- تلهور- ښاري-

تلوسه:(تل-و-سه)اسم- واحد- مؤنث- مخه- لیوالتیا- د بې قراري شوق- ډېر زیات شوق- تلوترک- خواهش- ارزو- جمع تلوسي-

تلول ١:(ت-ل-ول)مصدر متعدي- (١)توبول- خالي کول- چپه کول- (٢)مرخول- کودارول-

تلول ٢:(ت-ل-ول)مصدر متعدي- (١)په غوړو یا تېلو کښې سره کول- (٢)غصه رووستل-

تلول ٣:(تل-ول)اسم- (١)تنو... - حندی- (٢)ورحصاص- تروږ لی- تلوله-

تلوله:(تل-و-له)اسم- موسه- وارحصاص- پرسامي-

تلوني:(ت-ل-و-لی)اسم صفت مفعول- واحد- مذکر- چرتکی- تلون مزاج- ومط- تر...-

تلوني:(ت-ل-و-لی)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تلولي- مؤنث تلولې- وګورئ تلول ١-

تلولی:(ت-ل-و-لی)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تلولي- مؤنث تلولې- وګورئ تلول ٢-

تلور:(ت-لور)اسم- زرن- ...

تلور:(تلور)اسم- تنګ- ... - ...

تلونکی:(تا-ون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تلونکي- مؤنث تلونکې- وګورئ تلل-

تلونکی:(ت-ل-ون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تلونکي- مؤنث تلونکې- وګورئ تلول ١-

تلونکی:(ت-ل-ون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تلونکي- مؤنث تلونکې- وګورئ تلول ٢-

تلونګ:(ت-ل-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تلول ١-

تلونګ:(ت-ل-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تلول ٢-

تلونه:(ت-ل-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ تلول ١-

تلونه:(ت-ل-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ تلول ٢-

تلوسی:(ت-لو-سی)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تلوسي- مؤنث تلوسې- وګورئ تلل ١-

تلوښی:(تلو-ښی)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تلوښي- مؤنث تلوښې- وګورئ تلل ٢-

تلویح:(تل-ویح)اسم- رڼونه- روښانه کونه- ځلونه- (م- عربي)-

تلویم:(تل-ویم)اسم- ملامتونه- ګرمونه- ملامت کونه-(م- عربي)-

تله ١:(ت-له)اسم- واحد- مؤنث- (١)ترازو- د تللو اله- ترکړې- (٢)اسماني برجونو کښې د یو برج نوم- د شمسي کال اوومه میاشت (٢٣ سپتمبر نه ٢٢ اکتوبر پورې) چې ایرانیې مترادف ي مهر دی-

تله ٢:(ت-له)اسم- واحد- مؤنث- (١)تلی- د پښې لاندینۍ حصه چې زمکې سره لګي- (٢)د پیزار لاندینۍ حصه چې زمکې سره لګي-

تله ٣:(ت-له)اسم- دوکاچه- چوسره- چبوتره-

تله ٤:(ت-له)امر- تول کوه- وتله- د تلل نه امر-

تله ٥:(ت-له)اسم- واحد- مؤنث- د درېو ستورو جومبک- تلې-

تله:(تله)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ تلل ٢

تله:(ت-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ تله ٢-

تله واتله:(تله-وا-تله)اسم- تګ راتګ- تعلقات-

www.pukhto.net

تليا:(تل-يا)صفت- تلولے- (کول- مصدر)-

تليز:(تـلـيز)صفت- ازلی- د مسته د پارم- (افغانستان)-

تلين:(تلين)اسم- تلينه- د مری کال- د مری د کال خيرات-

تلينه:(تلی-نه)اسم- وګورئ تلين-

تلې:(تـلې)اسم- د دريو ستوريو چومبک- تله-

تلې پت:(تـلې-پت)اسم- واحد- مذکر- د تلې چاپېرے- د تلې يو اړخ- (افغانستان)-

تلپدل ۱:(تـلې-دل)مصدر لازم- سره کېدل- په غورو يا مېلو کېبې سره کېدل-

تلپدل ۲:(تـلې-دل)مصدر لازم- نوښېدل- چپه کېدل-

تلپدلے:(تـلې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تلپدلي- مؤنث تلپدلې- وګورئ تلپدل ۱-

تلپدن:(تـلې-دن)حاصل مصدر- وګورئ تلپدل ۱-

تلپدن:(تـلې-دن)حاصل مصدر- وګورئ تلپدل ۲-

تلپدنګ:(تـلې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تلپدل ۱-

تلپدنګ:(تـلې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تلپدل ۲-

تلپدنه:(تـلې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ تلپدل ۱-

تلپدنه:(تـلې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ تلپدل ۲-

تلپدونکے:(تـلې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تلپدونکي- مؤنث تلپدونکې- وګورئ تلپدل ۱-

تلپدونکے:(تـلې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تلپدونکي- مؤنث تلپدونکې- وګورئ تلپدل ۲-

تلپده:(تـلې-ده)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ تلپدل ۱-

تلپده:(تـلې-ده)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ تلپدل ۲-

تلپسک:(تـلې-سک)اسم- د انګورو وږے- خوشه- غنشه- غنچه- (افغانستان)-

تلې ګپ:(تـلې-ګپ)اسم- د خاصو ستورو د مجموعې نومونه چې د وخت اندازه ترې لګی او نجوميان ترې د حالاتو اندازه لګوی-

تلپمن:(تـلې-من)اسم- بزغلے- بوزغلے- تلپمنګ- زوړ غلے- زږغلے- کاڼ-

تلپمنګ:(تـلې-منګ)اسم- وګورئ تلپمن-

تلپوار:(تـلې-وار)اسم- تادی- بيړه- د تلوار بل قرات- وګورئ تلوار-

تلپوارګرندے:(تـلې-وار-ګرن-دے)صفت- د تلوارګرندے بل قرات- وګورئ تلوارګرندے-

تلپوارګندے:(تـلې-وار-ګن-دے)اسم صفت- د تلوارګندے بل قرات- وګورئ تلوارګندے-

تلې:(تـلې)اسم- واحد جمع- مؤنث- د بوټو د پاره جوړه شوه دوبچه-

تلې:(تـلې)اسم- واحد جمع- مؤنث- د غنمو يا اربشو پنېری-

ملے:(تـلے)اسم- واحد- مذکر- تل- انګڼ- غولے- ميدان- پاګ- د کور انګڼ- کورنه-

تلے:(تـلے)اسم- واحد- مذکر- (۱)د پښې لانديني برخه- (۲)د پېزار لانديني حصه- (۳)د زمکې نيوکره- (۴)د لاس د پنجې دننه حصه- ورغوے- (۵)کپه- چونډی- په ورغوی کښې د دارو مقدار- (۶)تل- بيخ-

تلے:(تـلے)صفت ماضی قريبه- (۱)د تللے بل قرات- لاړ- ولاړ- (۲)ضائع شوے-

تلے:(تـلے)اسم- د کټ لکه- (افغانستان)-

تلے:(تـلے)اسم- واحد- مذکر- د غويل خائ-

تلے تندے:(تـلے-تن-دے)اسم (مرکب)- پښه او سر- نوکه- جمع تلي تندي-

تلے راطے:(تـلے-را-طے)اسم- (۱)راشه درشه- تګ راتګ- (۲)تعلق-

تم:(تم)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- (۱)تهال- ايسار- ولاړ- تکيه وهلے- مؤنث تمه- جمع مؤنث تمې-

تم:(تم)صفت- ختم- بس- تمام- (م- عربی)-

تم:(تم)اسم- واحد- مذکر- تبر- تبرګے- جمع تمونه-

تماچه:(تـما-چه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)توپانچه- تومانچه- تپنچه- تموچه- يوه وړه وسله- (۲)د تير او ستن تر منځه لرګے-

تمازت:(تـما-زت)اسم- ګرمی- (م- عربی)-

تماس:(تـماس)اسم- (۱)سره لګېدنه- بلوونه- ګرېفنده- سره مښته- (۲)رابطه- ارتباط- اړيکه- تعلق- رشته- (م- عربی)-

تماسک:(تـما-سک)اسم- خان ژغورنه- خان ساتنه- خان ګوشه کونه- (م- عربی)-

تماشا:(تـما-شا)اسم- واحد- مؤنث- تماشه- (۱)ننداره- سيل- نظاره- (۲)د خندا او ټوقو څيز- عجيبه څيز-

تماشاچی:(تـما-شا-چی)اسم صفت- تماشګير- ننداريې- تماشه کونکے- کتونکے-

تماشائی:(تـما-شا-ئی)اسم صفت- تماشګير- ننداريې- تماشه کونکے-

تماش بين:(تـماش-بين)اسم صفت- واحد جمع- تماشګير- ننداريې- ننداره کونکے- تماشه کتونکے- (م- فارسی)-

تماشګير:(تـماش-ګير)اسم صفت- واحد جمع- تماش بين-

تماشه:(تـما-شه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ تماشا- جمع تماشې-

تماغه:(تـما-غه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)توماغه- د څرمنې يو قسم ټوپی چې عوروته پکښې پټ وی- (۲)د ښکاری مارغانو د سر ټوپی-

تماکو:(تـما-کو)اسم- د چيلم، سګرټ او نسوارو د جوړولو د پاره يکاريدونکے يو بوټے- نباتاتی نوم نکوټی يانا تې بيکم -AYORANA TARKUM-

تمام:(تـمام)صفت- (۱)پوره- مکمل- بشپړ- (۲)غټ- ټول- ګرد- (۳)ختم-

خلاص- کامل- سر ته رسېدلے- تمامي- (م- عربي)-

تمام توب:(ت-مام-توب)اسم- وګورئ تمامنت-

تمامست:(ت-ما-مست)اسم- خلاصے- ختمېدنه- پوره کېدنه- تمام والے- تمام توب- تمامتيا- تمامي- تمامت-

تمامول:(ت-ما-م-ول)مصدر متعدي- (۱)خلاصول- بشپړول- پوره کول- سر ته رسول- ختمول- بس کول- (۲)بېخي حلاصول او خرڅ کول-

تمامون:(ت-ما-م-ون)حاصل مصدر- وګورئ تمامول-

تمامونکے:(ت-ما-م-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تمامونکي- مؤنث تمامونکې- وګورئ تمامول-

تمامونګ:(ت-ما-م-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تمامول-

تمامونه:(ت-ما-م-وڼه)حاصل مصدر- وګورئ تمامول-

تماموونے:(ت-ما-م-وو-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تماموونی- مؤنث تماموونې- وګورئ تمامول-

تمامي:(ت-ما-مي)صفت- ټول- درست- پوره- مکمل- ټول ټال- واړه- غټ- روغ- سالم- پوره په پوره- کلهم-

تمامېدل:(ت-ما-مې-دل)مصدر لازم- (۱)خلاصېدل- بشپړېدل- پوره کېدل- پای ته رسېدل- سر ته رسېدل- ختمېدل- (۲)بېخي خرڅ کېدل-

تمامېدن:(ت-ما-مې-دن)حاصل مصدر- وګورئ تمامېدل-

تمامېدنګ:(ت-ما-مې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تمامېدل-

تمامېدنه:(ت-ما-مې-دڼه)حاصل مصدر- وګورئ تمامېدل-

تمامېدونکے:(ت-ما-مې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تمامېدونکي- مؤنث تمامېدونکې- وګورئ تمامېدل-

تمامېدۀ:(ت-ما-مې-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ تمامېدل-

تمايل:(ته-ما-يل)اسم- علاقه ښکاره کونه- يو شي يا يو لوري ته مايل کېدل-

تمائي:(ت-ما-ئي)اسم- طمع لرونکے- سولند- (افغانستان)-

تمب:(تمب)اسم- د تمبو لګولو ځاے- (افغانستان)-

تمباکو:(تم-با-کو)اسم- وګورئ تماکو-

تمبان:(تم-بان)اسم- واحد- مذکر- پرتوګ- پرتوګ- پردوګ- (م- پنجابي- تمبي)-

تمبرے:(تم-ب-رے)اسم- د نساپانو د پېرو جوړولو تخته- (افغانستان)- جمع تمبري-

تمبرۍ:(تم-ب-ړۍ)اسم تصغير- واحد جمع- مؤنث- تمبۍ- تمبکۍ- وړه تمبه-

تمبکه:(تم-ب-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د شاتو د مچيو کندو- د شاتو د مچيو سته- د شاتو د مچيو کور- تومبکه- (۲)بولۍ- لرمه- تباکه- جمع تمبکې-

تمبکۍ:(تم-ب-کۍ)اسم تصغير- واحد جمع- مذکر- وګورئ تمبرۍ-

تمبل:(تم-بل)اسم- واحد- مذکر- دم- طبل- داريال- داريا-

تمبلباز:(تم-بل-باز)اسم صفت- واحد- مذکر- تمبل وهونکے- تمبلي- جمع تمبلبازان- مؤنث تمبلبازه- جمع مؤنث تمبلبازې-

تمبل ګوټے:(تم-بل-ګو-ټے)اسم تصغير- واحد- مذکر- ووکے تمبل-

تمبلي:(تم-بـ-لي)صفت- واحد- مذکر- وګورئ تمبلباز-

تمبڼخے:(تم-بڼ-خے)اسم- واحد- مؤنث- تامبڼکے- د ګټې يا د لرګي نرۍ ښه بوکړه-

تمبۍ:(تم-ب-بۍ)اسم تصغير- واحد جمع- مؤنث- وګورئ تمبرۍ-

تمبو:(تم-بو)اسم- واحد- مذکر- (۱)خېمه- کېږدۍ- (۲)د مرغېو نيولو لومه- جمع تمبوګان تمبوان-

تمبوخه:(تم-بو-خه)اسم- تربوخه- بدبويه وږمه- (افغانستان)-

تمبور:(تم-بور)اسم- د موسيقۍ يوه آله-

تمبورچي:(تم-بور-چي)صفت- تمبور غږونکے-

تمبوړے:(تم-بو-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)صندوقچه- (۲)د ټيم وړوکې ملکه- جمع تمبوړي-

تمبوزګ:(تم-بو-زګ)اسم- (۱)سونټه- کتېبزے- خولوابته- کچيز- کټ پوز- (۲)ترموزګ- مول- موږ- ارموړي- بمبوزي- بوزي- (۲)يو قسم ټوپک- عورين بوبک- (افغانستان)-

تمبوري:(تم-بو-ري)اسم- د بوري تبو- د بوزې مېختے کرېندے غورکے-

تمبوزے:(تم-بو-زے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ تمبوزګ-

تمبوزے:(تم-بو-زے)اسم- وګورئ تربوزګ- (افغانستان)-

تمبوس:(تم-بوس)صفت- مذکر- لټ- بېکاره-

تمبوکۍ:(تم-بو-کۍ)اسم تصغير- واحد جمع- مؤنث- تمبکۍ- وړه تمبه- تمبرۍ- تمبۍ-

تمبوکے:(تم-بو-کے)اسم تصغير- وړه خېمه- وړه کېږدۍ-

تمبول:(تم-ب-ول)مصدر متعدي- د تصادم په نتيجه کښې بېرته ستنول- واپس ګرځول-

تمبولک:(تم-بو-لک)اسم- (۱)جامه بدوش- جنګيان- هغه خلق چې په تمبوانو کښې وسي- څنګيان- (۲)بمبولک- هر هغه شے چې غير ضروري طور باندې سم وبرولے شي-

تمبولے:(تم-بو-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تمبولي- مؤنث تمبولې- وګورئ تمبول-

تمبون:(تم-ب-ون)حاصل مصدر- وګورئ تمبول-

تمبونکے:(تم-بوون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تمبونکي- مؤنث تمبونکې- وګورئ تمبول-

تمبونګ:(تم-ب-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تمبول-

تمبونه:(تم-ب-وڼه)حاصل مصدر- وګورئ تمبول-

تمبه:(تم-به)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د دروازې يو ور- (۲)د لرګي ستن ستنه-

(۲)تومده- تېولے- (۲- صفت)له حیرې نه اوسېدونکے- مرورونې- ولده جمع معبې-

تمبیزه:(تم-بی-زه)اسم- واحد- مؤنث- تمبیزے- تمبوری- د پوزې د مېنځ کرېندے مهوکے- د پوزې پوږ- جمع تمبیزې-

تمبیزے:(تم-بی-زے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ تمبیزه- جمع تمبیزې-

تمبېدل:(تم-بې-دل)مصدر لازم- (۱)د تصادم په نتیجه کښې ستېدل- شکېدل- واپس کېدل- په شا تلل-

تمبېدلے:(تم-بې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تمبېدلي- مؤنث تمبېدلې- وګورئ تمبېدل-

تمبېدن:(تم-بې-دن)حاصل مصدر- وګورئ تمبېدل-

تمبېدنګ:(تم-بې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تمبېدل-

تمبېدنه:(تم-بې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ تمبېدل-

تمبېدونکے:(تم-بې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تمبېدونکي- مؤنث تمبېدونکې- وګورئ تمبېدل-

تمبېده:(تم-بې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ تمبېدل-

تمبېرے:(تم-بې-رے)اسم- تمبره- خمره-

تمتراق:(تم-تراق)صفت- طمطراق- شان شوکت- کروفر- (م- عربي)-

تمتراخ:(تم-ت-راخ)اسم صفت- تمتراق- طمطراق- لوئي- شان و شوکت-

تمتراق:(تم-تراق)اسم صفت- وګورئ تمتراق-

تمتع:(ت-مت-تع)اسم- ګټه- نفع- نفع اخستنه- (م- عربي)-

تم تې:(تم-تې)اسم صفت- واحد- مذکر- سخي- (د حاتم طائي عامیانه تلفظ)-

تم تېلا:(تم-تې-لا)اسم- واحد- مذکر- تم تېل- تم تیل-

تمثال:(تم-ثال)اسم- (۱)صورت- تصویر- عکس- (۲)مجسمه- مجسمه- (۳)مثل- مثل راوړنه- (م- عربي)-

تمثیل:(تم-ثیل)اسم- (۱)مثال- تشبیه- نظیر- مشابهت- د مثال په طور بیانونه- (۲)ډرامه- (حدیثه)- (م- عربي)-

تمثیلول:(تم-ثی-ل-ول)مصدر متعدي- ښودل- نمائش ورکول- مثال راوړل-

تمثیلېدل:(تم-ثي-لې-دل)مصدر لازم- ښودلے کېدل- مثال راوړلے کېدل- (افغانستان)-

تمجید:(تم-جید)اسم- بزرګي بیانونه- درنونه- نمانځنه- قدر کونه- لوئي کېدنه (م- عربي)-

تمخرے:(تم-خ-رے)اسم- تنخرے- تنزرے-

تمچو:(ت-م-چو)اسم- واحد- مذکر- ووَل- تمبچو- تمبه- کاچو- هغه ښت لرګے چې د دروازې په شا د بندولو د پاره اچولے شي-

تمدن:(ت-مد-دن)اسم- (۱)د یو ځائ د وسېدلو طریقه- په ښار کښې وسېدنه- د معاشرت طریقه- (۲)هغه علم چې پکښې د معاشرت اداب او طریقې ښودلے شي- (م- عربي)-

تمدید:(تم-دید)اسم- وږدونه- غزونه- وخت ورکونه- (م- عربي)-

تمدیدول:(تم-دی-د-ول)مصدر متعدي- وږدول- غزول- وخت ورکول-

تمر:(ت-مر)اسم- (۱)ښخې کجورې- (م- عربي)- (۲)د سترګو یوه بیماري- (افغانستان)-

تمرد:(ت-مر-رد)اسم- نه منه- نه منونه- سرکشي کونه- (م- عربي)-

تمرهندي:(ت-مر-هن-دي)اسم- مؤنث- املي- د ملتاني توم د پاره وګورئ املي-

تمرین:(تم-رین)اسم- مشق- تکرار- تکرارونه- بیا بیا وئیل- (م- عربي)-

تمساح:(تم-ساح)اسم- نهنګ- لوئ کب- ناکه- نکي- کهیر-

تمسخر:(ت-مس-خر)اسم- مسخره کونه- ملنډې کونه- ملنډې- پېشاره- پېغور- خندا- ټوقې- (م- عربي)-

تمسک:(ت-مس-سک)اسم- (۱)منحه لګونه- کرډنه- د سند په طور منڼه- (۲)هغه لوظ نامه چې پوروړے ئې د سند په توګه لیکي چې پکښې د روپیو د واپس کولو طریقه او میعاد لیک وي- (م- عربي)-

تمغه:(تم-غه)اسم- واحد- مؤنث- تغمه- په مقابله یا جنګ کښې د ښه کار کولو په مظاهره یادګاري نښه چې د انعام په طور ورکولے شي- جمع تمغې-

تمکه:(تم-که)اسم- واحد- مؤنث- د پیو په شان سپینه ماده لړونکے یو زهرژن خټکې بوټے- جمع تمکې-

تمکین:(تم-کین)اسم- (۱)درونوالے- درناوے- مرتبه- (۲)عاره ایښودنه- (۳)ځائ ورکونه- (م- عربي)-

تملق:(ت-م-لق)اسم- خوشامنده- چاپلوسي- (م- عربي)-

تملیک:(تم-لیک)اسم- د ملکیت حق ورکونه- تملیک نامه- څوک د څه خیز مالک یا خاوند کونه- (م- عربي)-

تملیک خط:(تم-لیک-خط)اسم- د ملکیت خط- هغه لیک چې په بنیاد ئې څوک د مځکې- جائیداد یا کوم خیز مالک کېدے شي- (افغانستان)-

تملیک نامه:(تم-لیک-نا-مه)اسم- واحد- مؤنث- تملیک- تملیک خط- هغه تحریر چې څوک د څه جائیداد مالک جوړوي- جمع تملیک نامې-

تمن:(ت-من)اسم- تمغه- شحار- اشحار- اشقار- مرے- د اشخار د بوټي له پاڼو جوړه هغه چکي چې په ځني علاقو کښې د صابون په ځائ پکارولے شي-

تمن:(ت-من)اسم- (۱)قومي- ټولے- جماعت- پلمه- عزیزولي- قبیله- (۲)رساله- پلټن- د سلو (۱۰۰) سورو یوه دسته-

تمنا:(ت-من-نا)اسم- واحد- مؤنث- امید- غوښتنه- خواهش- ارزو- شوق- (م- عربي)-

تمندار:(ت-من-دار)اسم صفت- مذکر- لوئ خان- تمن لرونکے- رسالدار- د عوضي دستې افسر- د ټولي، جماعت یا خاندان مشر-

www.pukhto.net

تمنۀ:(تۀ-مۀ-نۀ)اسم صفت- وګورئ تمن (۱)-
تمنى:(تۀ-مۀ-نى)اسم- (۱)د تمن سره متعلق- (۲)بولي- قبيلې- شاملات-
تمنې:(تۀ-مۀ-نې)صفت- جمع- مؤنث- تمنې- تولمېي- ترمې- تودوکې-
تمې:(تۀ-مې)صفت- وګورئ تمنې-
تمې:(تۀ-مۀ-بې)صفت- جمع- مؤنث- ترمې- لږې ګرمې- تمې-
تمور:(ت-مور)اسم- (۱)سخته ګرمي- د اشاړ مياشت- (۲)د رومي کيلنډر مطابق د جولائي مياشت- (م- عربي)-
تموس:(ت-موس)اسم- (۱)حرارت- تحرر- (۲)زياته ګرمي- تمور-
تموس:(ت-موس)اسم- ګرمي- ووږم-
تمول:(ت-م-ول)مصدر متعدي- تم کول- ايسارول- څمول- ايسارول- ودرول-
تمول:(تَ-مَو-وُل)اسم- شتمن توب- شتمني- دولتمندي- مالداري- (م- عربي)-
تمون:(ت-م-ون)حاصل مصدر- وګورئ تمول ۱-
تمونکے:(ت-م-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تمونکي- مؤنث تمونکې- وګورئ تمول ۱-
تمونګ:(ت-م-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تمول ۱-
تمونه:(ت-م-ونه)حاصل مصدر- وګورئ تمول ۱-
تمويل:(تم-ويل)اسم- (۱)چاته مال ورکونه- (۲)ماليه- (م- عربي)-
تمه:(ت-مه)اسم- واحد- مؤنث- طمع- لالچ- توقع- هيله- اميد- اسره- (م- عربي طمع)-
تمهيد:(تم-هيد)اسم- (۱)ويرونه- خپرونه- غوړونه- (۲)سريزه- شروع- پېل- عنوان- ديباچه- مقدمه- (م- عربي)-
تمهيدي:(تم-هي-دي)صفت- د تمهيد سره متعلق- وګورئ تمهيد-
تميز:(ت-ميز)اسم- (۱)بېلونه- جدا کونه- (۲)پېژندګلو- (۳)فرق- (۴)پوهه- عقل- شعور- (۵)ادب- (۶)طريقه- قاعده- (۷)چاچ-
تميزدار:(ت-ميز-دار)اسم صفت- تميز لرونکے- پوهه- هوښيار- لائق- مؤنث تميزداره- جمع مؤنث تميزدارې-
تميزداري:(ت-ميز-دا-ري)اسم- د تميز لرلو حالت-
تمېدل:(ت-مې-دل)مصدر لازم- تم کېدل- ايسارېدل- ودرېدل- ايسارېدل-
تمېدن:(ت-مې-دن)حاصل مصدر- وګورئ تمېدل-
تمېدنګ:(ت-مې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تمېدل-
تمېدنه:(ت-مې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ تمېدل-
تمېدونکے:(ت-مې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تمېدونکي- مؤنث تمېدونکې- وګورئ تمېدل-
تمېدۀ:(ت-مې-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ تمېدل-
تن:(تن)اسم- واحد- مذکر- (۱)بدن- وجود- ځان- صورت- جسم- جثه- ځثه- کالبد- کالبت- (۲)کس- تن- نفر- سر- سړے- (۳)چندۀ (مصدر- اچول)-
تنا:(تَ-نا)اسم- واحد- مؤنث- تناه- د وريخو غوا- تالنده- تنو- تندر- (م- عربي)-
تنا:(تَ-نا)اسم- تنها- يواځې- ګوښے- (د تنها عاميانه تلفظ)- (م- فارسي تنها)-
تناب:(تَ-ناب)اسم- واحد- مذکر- طناب- تناز- بېکل- رسۍ- هغه د سپينې تار چې کېږي پرې سر ته اچولے شي- (م- عربي)-
تنابوره:(تَ-نا-بو-ره)اسم- واحد- مؤنث- په شکه يا خټه کښې جوړ کړے شوے سورے چې د پوکي په ذريعه پکښې اواز کيږي- (افغانستان)-
تنارۀ:(تَ-نا-رۀ)اسم- مذکر- تنور-
تنازع:(تَ-نا-زع)اسم- واحد- مؤنث- (۱)بحث- شور- ګړس- تنازعه- (۲)جنګ جګړه- فساد- خېري اړونه- جمع تنازعې- (م- عربي)-
تنازعه:(تَ-نا-زُ-عه)اسم- وګورئ تنازع-
تن اسان:(تن-اَ-سان)صفت- تن اسانه- تن اسانے- ناراسته- کاهل- سست- لټ- ارام طلبه-
تن اسانه:(تن-ا-سا-نه)صفت- وګورئ تن اسان-
تن اساني:(تن-اَ-سا-ني)اسم- ناراستي- کاهلي- سستي- لټ توب-
تن اسانے:(تن-اَ-سا-نے)صفت- وګورئ تن اسان-
تناسب:(تَ-نا-سُب)اسم- د دوو يا زياتو اسمونو تر مېنځه نسبت- (م- عربي)-
تناسبي:(تَ-نا-سُ-بي)صفت- د تناسب سره متعلق-
تناسخ:(تَ-نا-سُخ)اسم- شکل بدلېدنه- د هندوانو د عقيدې مطابق له مرګه پس په بل شکل کښې دوباره راپېدا کېدنه- (م- عربي)-
تناسخي:(تَ-نا-سُ-خي)صفت- د تناسخ سره متعلق-
تناسل:(تَ-نا-سُل)اسم- نسل زياتونه- پېدا کونه- اولاد پېدا کونه- (م- عربي)-
تناسلي:(تَ-نا-سُ-لي)صفت- د تناسل سره متعلق-
تناظر:(تَ-نا-ظُر)اسم- يو بل ته کتنه- يو بل سره مخامخ کېدنه- تقابلي نظر-
تنافر:(تَ-نا-فُر)اسم- (۱)نفرت- کرکه- نفرت- (۲)د شاعرۍ په اصطلاح کښې د يو حرف داسې په تکرار راتګ چې د کلام خوند خراب کړي- (م- عربي)-
تناقص:(تَ-نا-قُص)اسم- نقص- ورو ورو کمېدنه- زيانونه- نقصانونه- (م- عربي)-
تناقض:(ت-نا-قض)اسم- تضاد- اختلاف- مخالفت- سره مخالف کېدنه- (م- عربي)-
تناز:(تَ-ناز)اسم- واحد- مذکر- تناب- رسۍ- وږد پړے- بدريښه- کېږ- (۲)د زمکې تلے- (۳)د کشتۍ د راکښلو د اسپنې تار-

ی٘ (خي-رل)، ی٘(مي-رو-ول)، ی٘(ميا-لي)، يې(تن-دې) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www pukhto net

تساوب(ت-نا-وب)اسم- وار ،پسودنه- په وار-

تساوکين(ت-ناو-کين)اسم- جولاګی- جولا- عنکبوت- عبه- غنی-

تساول(ت-نا-ول)اسم- جورته- جوړاد حسار کوته-

تسناوې(ت-نا-وې)اسم- واحد- مذکر- حجمي يا کبودي رسي- تسناز- ماندره- مرنده-

تسبل(تم-بل)اسم- تمل-

تسبل(تم-بل)صفت- سست- لټ- کاهل- سکاره-

تسبل کوبے(تم-بل-کو-بے)اسم مصغير- واحد- مذکر- تمبلګے- وروکے تمل- جمع تمبلګوبي-

تسبل مار(تم-بل-مار)اسم صفت- واحد- مذکر- تمل مار- تمبلچي- چمه مار- ممل يا چمه عروبکے-

تسبلي(تم-به-لي)اسم- سستي- نارسسي- لټ موب-

تسبو(تم-بو)اسم- وګوری تمبو-

تسبور(تم-بور)اسم- وګوری تمبور-

تسبورچي(تم-بور-چي)صفت- وګوری تمبورچي

تسبورله(تم-بو-ره)اسم- تمل- صل-

تسبورې(تم-بو-رې)اسم- تمبور ر-

تسبون(تن-مون)اسم- پان- پنړ-

تسمبه(تر-به)اسم- ګروه- ټولي- - دسمر مقابلې ته په خاص اسلر کسي محامع کيدنه- د جنګ خاص انداز-

تسبه(تم-به)اسم- واحد- مؤنث- تمبه- ور- دروازه- د درواري يوه برخه- جمع تمبې-

تسبيه(تم-بيه)اسم- (۱)ملامته- ملامتيا- رټنه- (۲)خبرداري- ويښونه- پوهونه- نصيحت-

تن پرور(تن-پر-ور)اسم- په خپر حان مين- خپل تن ساتونکے-

تنټري(تن-ټ-ري)اسم صفت- واحد- مذکر- ترټري- هغه څوک چي زمه ئي نيلي-

تنتنا(تن-ت-نا)اسم- شان شوکت- رعب- دبدبه- اواره-

تن تنها(تن-تن-ها)اسم- يواځې- ګوښے-

تنتني(تن-ت-ني)اسم- واحد جمع- مؤنث- د کوترې په شان يو آبي مارغۀ چي ووړی پښي لري-

تنتوبه(تن-تو-به)اسم- واحد- مؤنث- تنتوبه زمکه- ازي-

تنخرې(تن-خ-رې)اسم- واحد- مذکر- وګوری تنخرے- جمع تنخري سائنسي نوم ګرانکولينس پانډي سيرسانس FRANCOLINUS PONDICERIANUS -

تنخچي(تن-خ-چي)اسم- د بوټي نرۍ نرۍ نازکې پاڼې او تاروبه-

تنخواه(تن-خا)اسم- واحد- مؤنث- د مشاغلي عوضانه چي سرکاري ملازم يا نوکر ته ورکولے شي-

تنخواه دار(تن-خا-دار)اسم- ملازم- نوکر- تنخواه اخستونکے-

تند(تند)اسم- واحد- مذکر- (۱)تنده- (۲)سوکړه- (۳)تيز ارمان- هڅه- هله-

تند(تند)صفت- تاند- تازه- شين- سمسور- تنکے- نازک-

تند(تند)اسم صفت- مذکر- (۱)توند- ګړندے- چالاک- چټک- تيز- چُست- (۲)غصه ناک-

تندار(تن-دار)اسم- واحد- مؤنث- تندارہ- چاچې- تيندارہ- تنديار- د تږۀ سخه-

تنداره(تن-دا-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګوری تندار- جمع تنداري-

تندخوی(تند-خوی)اسم صفت- مذکر- خشکی- تيز خوئ لرونکے-

تندخويه(تند-خو-يه)اسم صفت- مذکر- وګوری تندخوی-

تندر(تن-در)اسم- واحد- مذکر- (۱)تسما- تبا- تالنده- اسماني بجلي- (۲)د ممر يا سپوږمۍ رڼا کمېدنه-

تندرست(تن-درست)صفت- صحت مند- روغ جوړ- تکړه- روغ رمټ-

تندرست والے(تن-درست-وا-لے)اسم- صحتمندی- روغ والے- جوړوالے- تکړه والے-

تندرستي(تن-درس-تي)اسم- صحت- روغوالے- سلامتيا- روغتيا- جوړوالے-

تندرکے(تند-ر-کے)اسم- واحد- مذکر- نيم سرے- د نيم سر درد- جمع تندرکي-

تندرکے(تن-در-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)د غرو او تندی تر مينځه ځاى- د غرو مرکندي- (۲)موبرنده- (۳)تپک- رومکه- (۴)اجلخے- ستر پدونکے-

تندره(تن-دره)اسم- د نمر يا سپوږمۍ تندر نيونه- اسماني بلا- آفت-

تندره(تن-د-ره)اسم- واحد- مؤنث- انځار- خړوبے-

تندرے(تن-د-رے)اسم- د ونې نرے پوټکے چي کال په کال د زوړ پوټکي ځای نيسي- (افغانستان)-

تند زبان(تند-زبان)اسم صفت- ژر ژر خبري کونکے- مؤنث تند زبانه- جمع مؤنث تند زباني-

تندغرې(تن-ده-غرې)صفت- تندی وهلے- تبې- جمع تندغري-

تندک(تن-دک)اسم- واحد- مذکر- تيندک- بنډری- تکره- جمع تندکونه-

تندک(تن-دک)صفت- تند خويه- تيز مزاج- خشکي-

تندل(تن-دل)مصدر- تندل- جوړول- رغول- ورغول- ترميمول- مرمت کول- (افغانستان)-

تندلے(تن-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تندلي- مؤنث تندلي- وګوری تندل-

تند مزاج(تند-م-زاج)اسم صفت- مذکر- تند خويه- تيز- قهرژن- غصيله- تريخ-

تندن(تن-دن)حاصل مصدر- وګوری تندل-

تندنګ(تن-دنګ)حاصل مصدر- وګوری تندل-

زمو"(ح-مف-وه)، وروکے"(شل)، "پېش"(نو-کا-وه)، رمو"(ک-تاب)، "جزم"(شکون)، ه(و-وه)، ۀ(پو-سي-دۀ)

www.pukhto.net

تندنه:(تن-دڼه)حاصل مصدر- وګوری تندل-

تندوالے:(تُند-والے)اسم- (۱)تیزي- چالکي- (۲)غصه- قهر- سوخت والے-

تندوبه:(تن-دوبه)اسم- واحد- مؤنث- دَ ابو دارہ- فواره- جمع تندوبې-

تندوبي:(تن-دوبي)اسم صفت- واحد جمع- مؤنث- پیړۍ اَبهٔ لرونکې- بڼهٔ اَبهٔ شوی- اوبو خړوب-

تندور:(تن-دور)اسم- واحد- مذکر- تنور-

تندور:(تن-دور)اسم- واحد- مؤنث- تندیار- د ترهٔ بخه-

تندوره:(تن-دو-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ګادر- د ره- تندوره- (۲)صندوقچه- لیشار- غرومبے- بغری- وهلندے- خارخوری- ګرخنے-

تندورے:(تن-دو-رے)اسم- واحد- مذکر- تندوړے- دَ پوری هدوکے- جمع تندوری-

تندوړے:(تن-دو-ړے)اسم- واحد- مذکر- د وني هغه ځانګه چې نوی تېغې يې وهلي وی-

تندوړے:(تن-دو-ړے)اسم- واحد- مذکر- دَ پوزې دَ سپږمو تر منځه عوښه- تیندوړے-

تندول:(تن-د-ول)مصدر متعدی- (۱)تمدول- تېزول- جلتول- چټک کول- چستول- (۲)په غصه کول-

تندوله:(تن-دو-له)اسم- واحد- مؤنث- تندولے- دنحکه- سانړیه- سورګلے- ورې وړی پاڼې او سور ګل لرونکے یو بوټے-

تندولے:(تن-دو-لے)اسم- وګوری تندوله-

تندون:(تن-دون)حاصل مصدر- وګوری تندول-

تندونکے:(تن-د-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تندونکي- مؤنث تندونکې- وګوری تندل-

تندونکے:(تن-د-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تندونکي- مؤنث تندونکې- وګوری تندول-

تندونه:(تن-د-ونه)حاصل مصدر- وګوری تندول-

تندونے:(تن-دو-نے)اسم- واحد- مذکر- چمدونے- دَ غوږ پوځکی- د غوږ نرمی- دَ غوږ پوستکی- جمع تندونی-

تندوے:(تن-دهٔ-وے)اسم- واحد- مذکر- تندیوے- د سینې کړېندے هډوکے- سرپېتے- د پښتۍ سر-

تنده:(تن-ده)اسم- (۱)تږے والے- د ابو خواهش- (۲)خشکی- سوکړه-

تنده:(تن-ده)اسم- لاټے- خوز- یو قسم ازغن بوټے چې اوښان ئې خوری-

تندی:(تن-دی)اسم- مؤنث- توندی- تلوار- تادی- جلدی- بیړه- تېزوالے- جلتي- (م- فارسی)-

تندیار:(تند-یار)اسم- واحد- مؤنث- تندار- تیندار- چاچی- د ترهٔ بخه-

تندیوے:(تن-دی-وے)اسم- وګوری تندوے-

تندېدل:(تن-دی-دل)مصدر لازم- تېرېدل- جنګېدل- چټکېدل- جلتېدل-

تندېدن:(تن-دی-دن)حاصل مصدر- وګوری تندېدل-

تندېدنګ:(تن-دی-دنګ)حاصل مصدر- وګوری تندېدل-

تندېدونکے:(تن-دی-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تندېدونکي- مؤنث تندېدونکې- وګوری تندېدل-

تندېدهٔ:(تن-دی-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګوری تندېدل-

تندی:(تن-دی)اسم صفت- واحد جمع- مؤنث نوي لنګه غوا- مېښه- چېلۍ وغیره- د زاړې ضد-

تندے:(تن-دے)اسم- واحد- مذکر- غند- عندمبر- ګړد-

تندے:(تن-دے)اسم- واحد- مذکر- وچولے- تندہ- وچولے- جمع تُندی-

تندے:(تن-دے)اسم- دَ هر حیوان تازه زېږېدلے بچے- جمع تندی-

تنړس:(تن-ړس)اسم- خړکے- کاپړحولی- د خرهٔ بکه-

تنړل:(تن-ړل)مصدر متعدی- تندل- رغول- جوړول- پیوندول-

تنړلے:(تن-ړلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تنړلی- مؤنث تنړلې- وګوری تنړل-

تنړن:(تن-ړن)حاصل مصدر- وګوری تنړل-

تنړنګ:(تن-ړنګ)حاصل مصدر- وګوری تنړل-

تنړنه:(تن-ړڼه)حاصل مصدر- وګوری تنړل-

تنړو:(تن-ړو)اسم صفت- واحد- مذکر- ګېړور- ډېر خوراک کونکے- دور کی- ربات خور-

تنړوس:(تن-ړوس)اسم- د سپرلی په موسم کښې د زرغېدونکي یو قسم واښهٔ-

تنړونک:(تن-ړونک)اسم- انګ- کدورے- کرسورے-

تنزل:(ت-نز-زل)اسم- ټیټ والے- ښکته والے- غرځېدنه- زوال- کمے- کوزېدنه- (م- عربی)-

تنزیل:(تن-زیل)کمېدنه- ټیټېدنه- ښکته کېدنه- رالوېدنه- (م- عربی)-

تنزیلول:(تن-زی-ل-ول)مصدر متعدی- ټیټول- کمول- غرځول- ښکته کول- کمول-

تنزیلېدل:(تن-زی-لی-دل)مصدر لازم- کمېدل- ټیټېدل- رالوېدل- ښکته کېدل-

تنسته:(ت-نس-ته)اسم- (۱)هغه تارونه چې د کېږې په رېدوالی کښې استعمال شوی وی- (۲)دَ جولاګی جاله-

تنسته بوده:(ت-نس-ته-بو-ده)اسم صفت- سرګنه- جوړونه- رغونه-

تنسوکه:(تن-سو-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)یو قسم نری قیمتی کپړه- (۲)شان- شوکت- عظمت- لوئی-

تنسیخ:(تن-سیخ)اسم- منسوخونه- باطلونه- رد کونه- (م- عربی)-

تنشا:(تن-شا)اسم- فخر- لوئ والے- دبدبه- شان شوکت- شهرت- جلال- (افغانستان)-

تنشن:(تن-شن)اسم- دروندوالے- زور- لنګر- فشار-(افغانستان)-

تنصیف:(تن-صیف)اسم- نیمونه- برابرې دوه ټکړې کونه- په دوؤ حصو کښې

www pukhto net

تقسیمونه-

تنظیم (تن-ظیم)اسم- (۱)په نظم کښې راوستنه- سمون- سرانجام- بر بروبه- بندوبست- انتظام- په ترتیب ایښودنه- (۲)ډله- ټولنه- پرتې-

تنظیمول (تن-ظی-م-ول)مصدر متعدي- سرانجامول- رغول- سمول- په ترتیب ایښودل-

تنظیمونکے (تن-ظی-م-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تنظیمونکی- مؤنث تنظیمونکې- وګورئ تنظیمول-

تنظیمونه (تن-ظی-م-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ تنظیمول-

تنفس (ت-نف-فس)اسم- (۱)ساه راکښه- ساه اخستنه- سلېدنه- (۲)سالنډې-

تنقید (تن-قید)اسم- واحد- مذکر- لټون- جاج- د څه کلام ښه والے یا بدوالے په ګوته کونه- تنقیدونه- (م- عربي)-

تنقیدي (تن-قي-دي)اسم- د تنقید سره تعلق لرونکے- (م- عربي)-

تنقص (تن-قص)اسم- (۱)کمونه- لږونه- (۲)ناقصونه- (م- عربي)-

تنسیط (تن-سیط) لیک نښې لکه ډیش (-)- کامه (،)- فل سټاپ (.)- انورټډ کامه ("") وغیره-

تنګ مزاج (ت-نګ-م-زاج)اسم صفت- واحد- مذکر- خشکي- غصه ناک-

تنګوالے (ت-نګ-وا-لے)اسم- خشکي والے- د غصې حالت- قهرېدل-

تنکي توب (ت-کي-توب)اسم- تنکي والے- تازه والے- تنکیتیا-

تنکیتیا (ت-کي-تیا)اسم- وګورئ تنکي والے-

تنکے (تن-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)کچه- نرم- نازک- تازه- (۲)نوے پوکېدلے- (۳)نوے پیدا شوے- جمع تنکي-

تنګ (تنګ)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- (۱)کم سر او سور لرونکے- د ارت ضد- (۲)بربنډ- پرېشانه- تکلیف کښې- غریب- خوار- اړ- محتاج- (۳)تنګے- د غرونو په منځ کښې لار- (۴)تنګه- مؤنث تنګه- جمع مؤنث تنګې- (م- فارسي)-

تنګ (تنګ)اسم- کوزه- وړوکے منګے-

تنګاچه (تنګ-ګا-چه)اسم- واحد- مؤنث- وړکاچه- تنګاچه- تنګاڅه- سوبه- پیه- صوبه- چوتره- جمع تنګاچې-

تنګ ترش (تنګ-ترش)اسم صفت- مذکر- (۱)ډېر زیات تنګ- (۲)تنګے- د ارت ښېرت ضد- مؤنث تنګه ترشه-

تنګ توب (تنګ-توب)اسم- تنګښه- تنګسه- تنګولے-

تنګ تیا (تنګ-تیا)اسم- وګورئ تنګ توب-

تنګڅه (تنګ-څه)اسم- واحد- مؤنث- غریبي- تنګسه- نېستي-

تنګ خلے (تنګ-خ-لے)اسم- واحد- مذکر- حاورین منګے یا جانې چې خله ئې تنګه وي- د تنګي خلې څیز-

تنګ حملے (تنګ-حي-لے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)د ارت حملے ضد- تنګه خله لرونکے- (۲)- اسم د اخرې چارشنبې یا صفرې په ورځ د چورې یو رسم-

تنګ دارو (تنګ-دارو)اسم- هغه دارو چې زنانه ئې د خپلو متیازو د ځائې د تنګولو د پاره استعمالوي-

تنګدست (تنګ-دست)اسم صفت- واحد- مذکر- تنګ لاسے- عاجز- خوار- غریب- جمع تنګدستي تنګدستیان- مؤنث تنګدسته- جمع مؤنث تنګدستې-

تنګدستي (تنګ-دس-تي)اسم- مؤنث- تنګسه- تنګسیا- عاجزي- خواري- د تنګدست جوړېدو حالت-

تنګدل (تنګ-دل)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)تنګ زړے- لنډپارے- بې حوصلې- (۲)زهیر- خفه- جمع تنګدلان- مؤنث تنګدله- جمع مؤنث تنګدلې-

تنګړي (تنګ-ګ-ړي)اسم- واحد جمع- مؤنث- دره- تنګے- تنګي- تنګ- د دوو غرونو تر مینځه لار-

تنګ زړے (تنګ-زړے)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ تنګدل- جمع تنګ زړي-

تنګسي (تنګ-سي)اسم- خواري- عاجزي- تنګدستي- تنګسه- تنګسیا-

تنګسیا (تنګ-سیا)اسم- وګورئ تنګسه-

تنګسانه (تنګ-سیا-نه)اسم- تنګسي- غریبي-

تنګ کوچ (تنګ-کوچ)اسم- د ملکانو د شطرنج غندې یوه لوبه- زمرے- پچیس- خطکی-

تنګ لاسے (تنګ-لا-سے)اسم صفت- واحد- مذکر- خوار- غریب- مفلس- بېسمه- بې شتو- عاجز- تنګدست- جمع تنګ لاسي- مؤنث تنګ لاسې-

تنګنا (تنګ-نا)اسم- مؤنث- دره- ناوه- زنګ- جمع تنګناوې-

تنګ نظري (تنګ-نظ-ري تنګ-ن-ظ-ري)اسم- مؤنث- بدبیني- حسد- بخیلي- شوکت والے- سوکتي- خسیستوب-

تنګوالے (تنګ-وا-لے)اسم- تنګي- تنګدستي- غریبي- خواري- عاجزي- کم والے- لنډوالے-

تنګوړے (تنګ-ګو-ړے)اسم- مذکر- تنګناه- تنګے- تنګه- تنګ ځائې-

تنګول (تنګ-ګ-ول)مصدر متعدي- تکلیف ورکول- پاداېول- ځورول- په عذابول- پرېشانه کول-

تنګون (تنګ-ګ-ون)حاصل مصدر- وګورئ تنګول-

تنګونکے (تنګ-ګ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تنګونکي- مؤنث تنګونکې- وګورئ تنګول-

تنګونګ (تنګ-ګ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تنګول-

تنګونه (تنګ-ګ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ تنګول-

تنګه (تنګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- میله- دره- د سوتي ونډر- ستړه- تنګ-

تنګه (تنګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- دره- د دوو غرونو تر مینځه ځائې- جمع تنګې-

تنګه (تنګ-ګه)اسم صوت- هغه آواز چې اوښ ته د چو کولو او جارولو په

www.pukhto.net

وحت کولے شی-

تنکه:(تنګ-که)اسم- واحد- مؤنث- د پخواني زماني يوه سکه-

تنګه:(تنګ-ګه)اسم صفت- واحد- مؤنث- د تنګ مؤنث- وګورئ تنګ- جمع تنګي-

تنګي:(تنګ-ګي)اسم- تنګسيا- سختي- فقر- غريبي- خواري- مصيبت- سپکوالے- لاچاري-

تنګېدل:(تنګ-ګي-دل)مصدر لازم- خوربدل- خفه کېدل- تيستمن کېدل- ربتېدل- پريشانه کېدل- خوارېدل-

تنګېدن:(تنګ-ګي-دن)حاصل مصدر- وګورئ تنګېدل-

تنګېدنګ:(تنګ-ګي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تنګېدل-

تنګېدنه:(تنګ-ګي-دنه)حاصل مصدر- وګورئ تنګېدل-

تنګېدونکے:(تنګ-ګي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تنګېدونکي- مؤنث تنګېدونکې- وګورئ تنګېدل-

تنګېده:(تنګ-ګي-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ تنګېدل-

تنګي:(تنګ-ګي)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)د غرونو په منځ کښې لار- (۲)هغه جوال چې کرت پکښې وي-

تنګي:(تنګ-ګي)اسم- واحد جمع- مؤنث- تنګي- تنګسيا- بده ورځ- لاس کوس-

تنګي:(تنګ-ګي)اسم- واحد جمع- مؤنث- تنګه کوڅه- کټ پېر-

تنميه:(تن-مي-يه)اسم- وده- نشونما- (افغانستان)-

تنور:(ت-نور)اسم- واحد- مذکر- ترون- تندور- په کور کښې يا د نانبائي د روټو پخولو ځائ- جمع تنورونه- (م- عربي)-

تنورپاک:(ت-نور-پاک)اسم- مذکر- (۱)هغه کپړه چې تنور يا تمخے پرې پاکولے شي- (۲)هغه آله چې د تنور ايرې پرې راوېستے شي-

تنورچي:(ت-نور-چي)اسم- واحد- مذکر- نانبائي- روټۍ پخونکے-

تنوري:(ت-نو-ري)اسم صفت- په تنور پخه شوې روټۍ-

تنوع:(ت-نو-وع)اسم- قسم قسم- رنګ رنګ- (م- عربي)-

تنول:(ت-ن-ول)مصدر متعدي- (۱)غړول- ګړزول- (۲)په مزي کښې پېرل- (۳)قدرمن کول-

تنولے:(ت-ن-ولے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تنولي- مؤنث تنولې- وګورئ تنول-

تنومند:(ت-نو-مند)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- قوي- زورور- زوراور- غټ کټ- (م- فارسي)-

تنون:(ت-ن-ون)حاصل مصدر- وګورئ تنول-

تنونکے:(ت-ن-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تنونکي- مؤنث تنونکې- وګورئ تنول-

تنونګ:(ت-ن-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تنول-

تنونه:(ت-ن-ونه)حاصل مصدر- وګورئ تنول-

تنوير:(تن-وير)اسم- (۱)رڼا- رڼائي- (۲)رڼا کونه- روښانه کونه- (م- عربي)-

تنويرول:(تن-وي-ر-ول)مصدر متعدي- (۱)روښانه کول- روښول- (۲)خرګندول- ښکاره کول-

تنويري:(تن-وي-ري)اسم- د تنوير سره متعلق-

تنوين:(تن-وين)اسم- په يو لفظ باندې د دوو زورونو- د دوو زېرونو يا د دوو پېښونو په لګولو سره د نون آواز پيدا کونه- د دوو زېرونو- د دوو زورونو يا د دوو پېښونو علامت- (م- عربي)-

تنه:(ت-نه)اسم- واحد- مؤنث- قد- قامت- وجود- تن- بدن- سټه- د ونې هغه برخه چې له ونې تر څانګې رسيږي-

تنه سوره:(ت-نه-سو-ره)اسم (مرکب)- (۱)ځلاوېه- جوړښت- جثه- جوشه- شکل- (۲)رنګ روغن- جمع تني-

تنها:(تن-ها)صفت- يواځې- خالده- ګوښے- بيل- (م- فارسي)-

تنهائي:(تن-ها-ئي)اسم- (۱)جدائي- بېلتون- (۲)ګوشه نشيني-

تني:(ت-ني)صفت- ځاني- ذاتي- شخصي-

تني نا:(ت-ني-نا)اسم- ځان سره زرو ورو ګوېيدنه- د ځان سره سندره ويل- (افغانستان)-

تني:(تمني)حرف جار- ترې نه- ترې- څخه- ځنې-

تنېدل:(ت-ني-دل)مصدر لازم- (۱)غړېدل- ګړبدل- د اسمان ګړزېدل- (۲)په مزي کښې پېرلے کېدل- (۳)قدرمن کېدل-

تنېدلے:(ت-ني-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تنېدلي- مؤنث تنېدلې- وګورئ تنېدل-

تنېدن:(ت-ني-دن)حاصل مصدر- وګورئ تنېدل-

تنېدنګ:(ت-ني-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تنېدل-

تنېدنه:(ت-ني-دنه)حاصل مصدر- وګورئ تنېدل-

تنېدونکے:(ت-ني-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تنېدونکي- مؤنث تنېدونکې- وګورئ تنېدل-

تنېده:(ت-ني-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ تنېدل-

تني:(ت-ني)اسم- واحد جمع- مؤنث- هغه ژبه چې په ځېرو کښې بنده بنده کېږي-

تن امن:اسم- شغر- سدره- عزن- (افغانستان)-

تن:(تن)اسم صوت- (۱)غږېدنه- غرېدنه- کن- کبا- (۲)کړنګېدنه- کړنګ- ټونګ- ټوږېدنه-

تباکه:(ت-با-که)اسم- واحد- مؤنث- پولۍ- پړومبې- جمع تباکې-

تن تن:(تن-تن)اسم صوت- تنګ ټونګ-

تنتنها:(تن-تن-ها)اسم- (۱)شور- زوږ- غالمغال- (۲)شهرت- افواه-

ګ (ګي-رل) ي (هي-ره-ول)۰ ګ (ګيا-لي) نه (تن-ده-ره) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www pukhto net

(۲)انګازه-

تن تون:(تن-تون)اسم صوت- هن هون- تن تن-

تـنهسکار:(تـنهس-کار)اسم- واحد جمع- مذکر- تـنهکار-

تـنهکار:(تـنٔ-کار)اسم- واحد جمع- مذکر- تـنهسکار- دٔ خاورې په شان یو کاڼے چې حکیمان یې دٔ دارو د پاره تجویز کوي-

تنهکار:(تـن-کار)اسم- (۱)تنکهار- (۲)استه یخنی-

تـنهکار:(تـن-کار)اسم- یوه ماده چې حرند او بوئ دواړه نهٔ لري- مسګران یې دٔ لوښو پاکولو- سپینولو او جوړولو دٔ پاره بکاروي- سائنسي نوم نوشادر امونیم کلورائیډ-

تـنکی:(تن-کی) سده- مری مری بیې-

تـنهول:(تـن-ول)مصدر متعدي- (۱)وهل بکول- پهٔ لښتو وهل- (۲)نیمخالـه کـول- لـهٔ لاده بـاده ایستـل- (۳)غړول- پهٔ تـښـا رالوستـل- (۴)دٔ زمرې غرمبول-

تنهون:(تـن-ون)حاصل مصدر- وګورئ تـنهول-

تـنهونکے:(تـن-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تـنهونکي- مؤنث تـنهونکې- وګورئ تـنهول-

تنهونګ:(تـن-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تـنهول-

تنهونه:(تـن-ونـه)حاصل مصدر- وګورئ تـنهول-

تنهار:(تـن-هار)اسم صوت- د برې اواز شور-

تـنهار:(تـن-هار)اسم صوت- شـنا- شـا- (۱)دٔ اسمان د کـړز کـړوز اواز- (۲)دٔ زمرې یا پړانګ اواز-

تنهارے:(تـن-هارے)اسم صوت- تـنهدنه- تن تن کونه-

تـنیار:(تن-یار)اسم- مذکر- هغه سرے چې لهٔ وریښمو تـنې جوړوي-

تنې تنې:(تـنې-تـنې)اسم صفت- ترارې ترازې- کلرې وارې-

تـنهېدل:(تـنې-دل)مصدر لازم- (۱)دٔ زمرې غرمبېدل- دانګل- ترهېدل- (۲)پهٔ بېړ کښې د مینو بغارے کول-

تـنهېدلے:(تـنې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تـنهېدلي- مؤنث تـنهېدلې- وګورئ تـنهېدل-

تـنهېدن:(تـنې-دن)حاصل مصدر- وګورئ تـنهېدل-

تـنهېدنګ:(تـنې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تـنهېدل-

تـنهېدنه:(تـنې-دنـه)حاصل مصدر- وګورئ تـنهېدل-

تـنهېدونکے:(تـنې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تـنهېدونکي- مؤنث تـنهېدونکې- وګورئ تـنهېدل-

تـنهېدهٔ:(تـنې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري دٔ واحد غائب صیغه- وګورئ تـنهېدل-

تـنې ونې:(تـنې-ونې)اسم صفت- صابع- تـنې ونې-

تـنې:(تـنې)اسم- واحد جمع- مؤنث- تړن- تکمه- تمسه- کړې-

تـنې:(تـنې)اسم- واحد جمع- مؤنث- دٔ اس یا خر سینه بند-

تو:(تو)اسم صوت- د توکلو اواز-

تو:(تو)کلمه- د لعنت او نفرت کلمه- تف-

تو:(تو)اسم- (۱)توت- (۲)توبوالے- تودوخې- تاؤ- (۳)غصه-

تو:(تو)اسم صوت- دٔ سپي د راغللو اواز-

توا:(تو-وا)اسم صوت- بوشکاره- بکاره- سپي ښکار پسې پاروئه-

تواب:(تـ-واب-تو-واب)صفت- توبه منظوروونکے- الله تعالیٰ- (م- عربي)-

تواتر:(تـ-وا-تر)اسم- برابر- پله پسې- پرله پسې- یو مخیز- (م- عربي)-

تواتو:(تـ-وا-تو)اسم- د عمر شرعي او ناروا پیسو دٔ پیدا کولو لاره- (افغانستان)-

تواچي:(تـ-وا-چي)اسم- تبلشي- د کلي دٔ ملک مرسته کوونکے- دٔ کلي دٔ مشر مرستیال- (افغانستان)-

توار:(تـ-وار)اسم- واحد- مذکر- یوه مشهوره کېږه-

توارث:(تـ-وا-رث)اسم- وراثت- پهٔ میراث اخستنه- (م- عربي)-

توارد:(تـ-وا-رد)اسم- پهٔ یو وخت او یو ځائ راتلـنه- دٔ دوو مختلفو شاعرانو دٔ شعرونو پهٔ معنو کښې یو شان والے- (م- عربي)-

تواره:(تـ-وا-ره)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم کېږدې- جونګړه- جمع تواري-

تواریخ:(تـ-وا-ریخ)اسم- جمع- د تاریخ جمع- دٔ تېرو وختونو دٔ حالاتو کتاب-

تواړ:(تـ-واړ)اسم- مذکر- یو قسم کېږه-

تواړه:(تـ-وا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- ساتبان چې د دوکانونو مخکښې د سورې د پاره لګولے شي- (م- پنجابي)-

توازن:(تـ-وا-زن)اسم- برابري- یو شان والے- برابروالے- پهٔ یو وزن کېدنه-

تواضع:(تـ-وا-ضع)اسم- خاکساري- عاجزي- کمسي- خاطر- مدار- نیاز- نذر- دعوت- میلمستیا- د تکبر ضد- (م- عربي)-

توافق:(تـ-وا-فق)اسم- برابرېدنه- جوړښ-

توالد:(تـ-وا-لد)اسم- د اولاد پیدا کونه-

توام:(تـ-وام)اسم- غبرګ- جوړه- غبرګوني- دوه ماشومان چې پهٔ یو وار د مور نه پیدا شي- (۲)یو ځائ- پرله پسې- پیوست- (م- عربي)-

تومان:(تـ-وا-مان)دٔ نستعلیق خط- پېچیده او نفستے خط- (افغانستان)-

توان:(توان)اسم- وس- طاقت- زغم-

توانا:(تـ-وا-نا)اسم صفت- مضبوط- طاقتور- زورور- زبردست- (م- فارسي)-

توانائي:(تـ-وا-نا-ئي)اسم- طاقت- زور- وس- قوت- قدرت- (م- فارسي)-

توانګر:(تـ-وان-ګر-توان-ګر)اسم صفت- مذکر- شتهٔ من- دولتمند- زورور- بېښتس ضد- مالدار- بختور- (م- فارسي)-

توانګري:(توان-ګـ-ري)اسم- دٔ توانګر جوړېدو حالت-

توانول:(توا-ن-ول)مصدر متعدي- توان ورکول- امداد ورکول- پاڼ ورکول- کومک ورکول-

زبر (خ-بـهٔ-سره)، زورکے (شل)، پېښ (غو-کـا-ره)، رمر (کـ-ساب)، جزم (شکون)، ="(ر-ره)، "(یو-سي-دهٔ)

www.pukhto.net

توانون:(توا-ن-ون)حاصل مصدر- وګورئ توانول-

توانونکے:(توا-ن-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع توانونکي- مؤنث توانونکې- وګورئ توانول-

توانونګ:(توا-ن-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ توانول-

توانونه:(توا-ن-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ توانول-

توانېدل:(توا-نې-دل)مصدر لازم- (۱)طاقت، زور حاصلول- (۲)زور، طاقت دوباره حاصلول- (۳)جوړېدل- رغېدل-

توانېدلے:(توا-نې-د-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع توانېدلي- مؤنث توانېدلې- وګورئ توانېدل-

توانېدن:(توا-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ توانېدل-

توانېدنګ:(توا-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ توانېدل-

توانېدنه:(توا-نې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ توانېدل-

توانېدونکے:(توا-نې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع توانېدونکي- مؤنث توانېدونکې- وګورئ توانېدل-

توانېدهٔ:(توا-نې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ توانېدل-

توب:(توب)لاحقه- د اسم يا صفت په اخر کښې دَ کېفيت يا حالت دَ ښرګندولو د پاره استعمالېږي- لکه سړيتوب-

توباتوب:(تو-با-توب)اسم- توبه توبه- په توبو توبو-

توب پنبه:(توب-پن-به)اسم- واحد- مؤنث- توپ پنبه- ميراټېه- د ملکانو يوه لوبه-

توبره:(توب-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کڅوړه- هغه لنډه بوجۍ چې اس يا خر ته پکښې دانه اچولے شي- (۲)هغه غله چې اَس ته سحر نماښام ورکولے شي-

توبره:(توب-ره)اسم- د اسونو او خرو يو قسم بيماري-

توبرى:(توب-رى)اسم- بخی- يو قسم ګنډ- يو قسم کشيده- (افغانستان)-

توبرے:(توب-رے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ غشي څوکه- دَ کجورې لزغے- (۲)ووړکے تبرګے چې په لاس کښې ګرځولے شي- جمع توبرى-

توبه:(تو-به)اسم- واحد- مؤنث- لهٔ ګناه اوړېدنه- پښېماني- استغفار- په کړو پښېمانه کېدنه- په بد عمل افسوس- دَ بيا نهٔ کولو وعده- جمع توبې- (م- عربی)-

توبه توبه:(تو-به-تو-به)اسم- بېزاري- پښېماني- استغفار-

توبه پت:(تو-به-پت)اسم صفت- هر وخت توبه اېستونکے او ماتونکے-

توبه ګار:(تو-به-ګار)اسم صفت- توبه اېستونکے- پښېمانه-

توبيخ:(تو-بيخ)اسم- خوله رټنه- ملامتونه- چا ته سپورې سپکې وئېنه-

توبين:(تو-بين)اسم- څکه- خوند- ذائقه- مزه- (افغانستان)-

توبين:(تو-بين)اسم- شنوبې- پرومبې- دَ شوملو هغه ترشې اَبهٔ چې کُرت ترې جوړېږي-

توپ:(توپ)اسم- واحد- مذکر- (۱)توپه- غټې غټې ګولۍ ويشتونکې يوه جنګي وسله- (۲)پېروس- (۳)دَ کپړې تان-

توپان:(تو-پان)اسم- واحد- مذکر- (۱)طوفان- باد باران- ولي سيلي- زوَل سيلي- (۲)ناڅاپي- (۳)لويه حادثه- لوئ غم- جمع توپانونه-

توپان جال:(تو-پان-جال)اسم- واحد- مذکر- د کبانو دَ نيولو لوئ جال-

توپانچه:(تو-پان-چه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ تمانچه-

توپاني:(تو-پا-ني)اسم- واحد جمع- مؤنث- دَ خوند او ظرافت خبرې- د توټو خبرې- بې معنې خبرې- وشې- بې مطلبه خبرې- (افغانستان)-

توپ بازي:(توپ-با-زي)اسم- هره هغه لوبه چې په غنډسکې کولے شي- (افغانستان)-

توپچي:(توپ-چي)اسم- واحد- مذکر- توپه چلونکے- جمع توپچيان-

توپخانه:(توپ-خا-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)توپ- (۲)ګڼې توپې- دَ توپو مجموعه- (۳)دَ توپو رساله-

توپړ:(تو-پړ)اسم- (۱)زيان- تاوان- نقصان- صدمه- واقعه- ضرر- مصيبت- (۲)پېښه- حادثه-

توپړک:(توپ-ړک)اسم- پوستين- ورجم- (افغانستان)-

توپ سازي:(توپ-سا-زي)اسم- دَ توپو جوړولو کار-

توپک:(تو-پک)اسم- واحد- مذکر- ټوپک- تُفنګ-

توپلندے:(توپ-لن-دے)اسم- توپيه- د زړو ټراشلې شوې وړې وړې ټوټې- ذرې- توښتي- توپاني- توپلندے- جمع توپلندي-

توپن:(تو-پن)اسم صفت- مذکر- رټلے- اسکېرلے- بدبخته- بدقسمته- فلک زده-

توپنچه:(تو-پن-چه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ تماچه-

توپنکچه:(تو-پنګ-چه)اسم- واحد- مؤنث- تسکچه- تماچه-

توپنه:(تو-پ-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ توپلندے- جمع توپنې-

توپه:(تو-په)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ توپ-

توپير:(تو-پير)اسم- امتياز- فرق- تفاوت- بېلوالے- (افغانستان)-

توت:(توت)اسم- څهٔ څيز په غوږيو کښې سرهٔ کونه- (افغانستان)-

توت:(توت)اسم- واحد- مذکر- ثو- يوه ونه او دَ هغې مېوه- نباتاتي نوم بروسونېټيا پېپريفرا (BROUSSONETIA PAPYRIFERA)- جمع توتان-

توتا:(تو-تا)اسم- واحد- مذکر- طوطی- توتی- يو مارغهٔ چې دُ لوې حوارى نه پس خبرې زده کولے شي-

توتا:(تو-تا)اسم- زاغ- خاورى- پيکنى- پېکړى- زمچ- (افغانستان)-

توتاکرکے:(تو-تا-کر-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ابابيل-

توتاګرکے:(تو-تا-ګر-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ابابيل-

توت خورکه:(توت-خو-ر-که)اسم- واحد- مؤنث- داغ سرى مرغی- کنبه مرغی- يوه وړه خوږ اوازه مرغۍ چې اکثر دَ توتانو په موسم کښې وي- جمع توت خورکې-

ی" (ئی-ړل)، ی"(مي-ره-ول)، ی"(پيا-لي)، ے"(تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

توت خوره:(توت-خو-ره)اسم- واحد- مونث- يو قسم سوورنګې مرغۍ- جمع توت خورې-

توتړے:(تو-تړے)اسم- واحد- مذکر- تورتړے- تړتړے- چې زنه ئې تبلي- کنګور ے-

توتبه:(تو-تبه)اسم- واحد- مونث- نرم از پوست کانې- (افغانستان)-

توتکارے:(تو-ت-کا-رے)اسم- واحد- مذکر- توتکرے- يو قسم توره مرغۍ- ابابيل- توتکرکے-

توتکرکے:(تو-ت-کر-کے)اسم- واحد- مذکر- توتکے- توتکي- يوه سبزه الوتونکې مرغۍ- (افغانستان)-

توتکي ګل:(تو-ت-کي-ګل)اسم- منوشه- چتکے- چنياکے- يو قسم واښه چې ګل ئې په دارو کښې پکارولے شي- بنفشه-

توتکي:(تو-ت-کي)اسم- واحد جمع- مؤنث- توتکے- وکورئ توتکرکے-

توتکي سبک:(تو-ت-کي-س-بک)اسم- نرې پاڼې لرونکے يو قسم بوټے- (افغانستان)-

توتکے:(تو-ت-کے)اسم- واحد- مذکر- وکورئ توتکارے-

توتکے:(توت-کے)اسم تصغير- د توت اسم تصغير- ووړکے توت-

توتکے:(تو-ت-کے)اسم- واحد- مذکر- د وړوړو چينجے چې په ګلونو پيرېږي- جمع توتکي-

توتلے:(تو-ت-لے)اسم- واحد- مذکر- سابې- هغه کېږه چې د کرم ښېګ يا دکښي نيولو د پاره پکارولے شي- جمع توتلي-

توتن:(تو-تن)اسم- اوماچ- د چاڼ شويو اوړو شيره چې مرچ پکښې واچوي او د زکام د پاره د دارو په توګه پکارولے شي-

توتن:(تو-تن)اسم- تکړ- تيته- (افغانستان)-

توتنکے:(تو-تن-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)توتنے- خښنے- توتنکه- توتنکے- توتنے- حرڅنے- (۲)حکوزے- خکونے- جمع توتنکي-

توتنګره:(تو-تنګ-ره)اسم- د يوې لوبې نوم-

توتنے:(تو-تنے)اسم- واحد- مذکر- وکورئ توتنکے- جمع توتني-

توتنے:(تو-تنے)اسم- (۱)هغه خيرے چې د لاس مرلو سره مسچي مېنځې بنکته وغرخيږي- (۲)په لاس ايستلې شوې نکريزې-

توتنکه:(تو-تن-که)اسم- واحد- مؤنث- وکورئ توتنکے-

توتنکے:(تو-تن-کے)اسم- واحد- مذکر- وکورئ توتنکے- جمع توتنکي-

توتنے:(تو-تنے)اسم- واحد- مذکر- وکورئ توتنکے-

توتو:(تو-تو)اسم صوت- د سپي د راغسلو اواز-

توتو:(تو-تو)اسم صوت- تې تې- آ آ- کت کت- د چرګانو د رابللو اواز- (۲)چرګ- (د ماشومانو لهجه)-

توتوبېن:(تو-تو-بېن)اسم- ملاچرګک- ګڼې چرګ- يو قسم مرغۍ- (افغانستان)-

توته:(تو-ته)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کوترے- د سپي بچے- کوکرے- (۲)د شپېلۍ ژبې- (۳)هغه اک چې حولاګان پرې د تسمتي تار تاووي- جمع توتې-

توته:(تو-ته)اسم- واحد- مؤنث- مچوغنه- مچوغونده- جمع توتي-

توتي:(تو-تي)اسم- واحد- مذکر- طوطا- طوطي- يو قسم شين مارغه چې په خوږې سره خبرې هم زده کولے شي-

توتي موتي:(تو-تي-مو-تي)اسم- د ماشومانو د پاره لۀ واوري جوړ رنګدار ګمسکې-

توتيا:(تو-تيا)اسم- طوطيا- د رنجو کانے-

توتيه:(تو-تي-يه)اسم- واحد- مؤنث- اغاز- تمهيد- توتي- جمع توتيې-

توتي:(تو-تي)اسم- تمهيد- توتيه- په کتاب ليکلو شروع مقدمه-

توتي:(تو-تي)اسم صفت- مؤنث- سولېدلے- سپينتے- سولېدلې بيبۍ- چېره ببدې- (افغانستان)-

توتيالي:(تو-تيا-لي)اسم- واحد- مؤنث- د شرابو پيالې- توتانکي-

توثيق:(تو-ثيق)اسم- (۱)پوخوالے- پوختيا- مضبوطوالے- استحکام- (۲)په حلۀ يا په ليک کښې د څۀ خبرې تصديق-

توجه:(تو-جه)اسم- مخه- پام- غور- رغبت- خيال- لحاظ- مهرباني- (م- عربي)-

توجي:(تو-جي)اسم صفت- واحد- مذکر- تاړي- يو قسم سپے- جمع توجيان-

توجي:(تو-جي)اسم- لومبړه- د سلنسي توم د پاره وکورئ لومبړه-

توجيه:(تو-جيه)اسم- واحد- مؤنث- وجه بيانونه- وجه ښنيته- (۲)حليه- (م- عربي)-

توحيد:(تو-حيد)اسم- يو الله منه- په وحدانيت يقين لرنه- (م- عربي)-

توخ: توخ- اسم- تو- تپ- تاړ-

توخانه:(تو-خا-نه)اسم- واحد- مونث- ساژخانه- هغه کوټه چې عرش لاندې ئې اور بلېږي او پوله کوټه پرې توده وي-

توخته:(تو-خته)اسم- واحد- مؤنث- (۱)آرام- (۲)زغم- (۳)طاقت- توان-

توخرے:(تو-خ-رے)اسم- واحد- مذکر- توخه- د شملو پخه- د شملو په سر راځنې پوستکې- شلوم-

توخس:(تو-خس)اسم- تاوان- زيان- نقصان- (۲)د ماشوم بې وخته پيدا کېدو- اسقاط-

توخنے:(تو-خنے)اسم- واحد- مذکر- هغه کېږه چې کرم تنور پرې صفا کړے شي- جمع توخني-

توخونے:(تو-خو-نے)اسم- واحد- مذکر- نيازبين- نازورے- نيازولے- جمع توخوني-

توخه:(تو-خه)اسم- واحد- مؤنث- وکورئ توخرے-

توخير:(تو-خير)اسم- حاربنت- کهه- کرېدنه- تخندنه- تخنېدنه- (افغانستان)-

توخير:(تو-خير)اسم- واحد- مذکر- توخيرونه- سوزې پيدا کونه- دردونه-

زبر (ځ-بې-ره)، زوروکے (شل)، پېښ (تو-کا-ره)، زير (ک-تاب)، جزم (شکون)، ۀ (ز-ړه)، ۀ (پو-بې-ده)

www pukhto.net

توخیرول:(تو-خي-ر-ول)مصدر متعدي- خاربښتول-

توخیرون:(تو-خي-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ توخیرول-

توخیرونکی:(تو-خي-ر-وون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع توخیرونکي- مونث توخیرونکې- وګورئ توخیرول-

توخیرنګ:(تو-خي-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ توخیرول-

توخیرونه:(تو-خي-ر-وڼه)حاصل مصدر- وګورئ توخیرول-

توخیرېدل:(تو-خي-ري-دل)مصدر لازم- خاربښتېدل-

توخیرېدن:(تو-خي-ري-دن)حاصل مصدر- وګورئ توخیرېدل-

توخیرېدنګ:(تو-خي-ري-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ توخیرېدل-

توخیرېدنه:(تو-خي-ري-دڼه)حاصل مصدر- وګورئ توخیرېدل-

توخیرېدونکی:(تو-خي-ري-دون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع توخیرېدونکي- مؤنث توخیرېدونکې- وګورئ توخیرېدل-

توخیرېدهٔ:(تو-خي-ري-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ توخیرېدل-

توخے:(تو-خے)اسم- خاورین- د خاورې کنډول-

تود:(تود)اسم صفت- واحد- مذکر- ګرم- دَ سوړ ضد- مؤنث توده- جمع مؤنث تودې- جمع تاوده-

تودباد:(تود-باد)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)توده سیلۍ- (۲)بد ساعت- بد وخت- ناکاره یا سخته ګړۍ-

تودین کوغالے:(تود-ین-کو-غالے)اسم- تنور- (افغانستان)-

تود سوړ:(تود-سوړ)صفت- (۱)عصه- (۲)عاشق- مئین-

تود سوړ:(تود-سوړ)اسم- د تاوده سړی مرېدنه- یوه بیماری-

تودښت:(تو-دښت)اسم- ګرمي- تودوالے- تودوښه- تاؤ- حرارت-

تودکانے:(تود-کا-نے)اسم- واحد- مذکر- دَ ماشومانو یوه لوبه- توده تیره- توده کنځکه-

تودمن:(تود-من)اسم- یو بوټے او د ممې ګل چې اول یې د ګل رنګ سپین وی او آخر کښې تور شی- (افغانستان)-

تودنی:(تو-دڼي)اسم- واحد جمع- مؤنث- ترکاڼه- بُخاری- (افغانستان)-

تودوالے:(تود-وا-لے)اسم- د تودېدلو حالت- تودوښه- تاؤ- تو- توخ-

تودوبین:(تو-دو-بین)اسم- سقاوه- حمام- تودوبے- هغه ځائ چې د لامبلو د پاره پکښې تودې اُبه وی- (افغانستان)-

تودوبے:(تو-دو-بے)اسم- حمام- د لامبلو ځائ- لمبوځے-

تود وربن:(تود-و-ربن)اسم- تود باد- توده ووبه- ګرم باد- توده اېشمه- (افغانستان)-

تودوښه:(تو-دو-ښه)اسم- ګرمي- تودوالے- (افغانستان)-

تودوکی:(تو-دو-کي)اسم- لږه شان ګرمي- تودوښې-

تودوکے:(تو-دو-کے)صفت- نرم- لږ شان تود- لږ غوندې ګرم-

تودول:(تو-د-ول)مصدر متعدي- (۱)ګرمول- حرارت ورکول- (۲)لمسول- غصه کول- پارول-

تودون:(تو-د-ون)حاصل مصدر- وګورئ تودول-

تودونکے:(تو-د-وون-کے)اسم- واحد- مذکر- جمع تودونکي- مؤنث تودونکې- وګورئ تودول-

تودونګ:(تو-د-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تودول-

تودونه:(تو-د-وڼه)حاصل مصدر- وګورئ تودول-

توده:(تو-ده)اسم صفت- واحد- مؤنث- د تود مونث- ګرمه- د یخې ضد- سره- سوړتوده- شکه-

توده تبه:(تو-ده-تَ-به)اسم- توره سه-

توده تیره:(تو-ده-تی-ره)اسم- (۱)تود کانے- هغه تود کانے- توده ګټه- ګرمه تیږه- (۲)دَ ماشومانو یو قسم لوبه-

توده سره:(تو-ده-س-ره)اسم- (۱)زکام- ریزش- ساړه وهنه- د یخنې وهنه- مارونے- والګے- (۲)سختۍ- تکلیف-

توده کنځکه:(تو-ده-کُن-ځڼ-که)اسم- جنګي کنځکه- خرړونه- دَ ماشومانو یوه لوبه-

تودی:(تو-دی)اسم- واحد- مؤنث- عبدی- شکې- وړوکے عرګے-

تودېدل:(تو-دې-دل)مصدر لازم- (۱)ګرمېدل- (۲)لمسېدل- (۳)مئینېدل- (۴)تاؤ ورکېدل- (۵)غصه کېدل-

تودېدن:(تو-دې-دن)حاصل مصدر- وګورئ تودېدل-

تودېدنګ:(تو-دې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تودېدل-

تودېدنه:(تو-دې-دڼه)حاصل مصدر- وګورئ تودېدل-

تودېدونکے:(تو-دې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تودېدونکي- مؤنث تودېدونکې- وګورئ تودېدل-

تودېدهٔ:(تو-دې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ تودېدل-

تودی:(تو-دی)اسم- واحد جمع- مؤنث- انبار- زیات- پېر-

توړ:(توړ)اسم- نقصان- زیان- خساره- تاوان- تروټ- (ش- هندی)-

توړه:(تو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- تَده- تبندل- (ش- هندی)-

تور:(تور)صفت- (۱)دَ سپین ضد- دَ تیرې رنګه- د تیرې رنګ لرونکے- (۲)ګناهګار- مجرم- (۳)بربنډ- لکه تور سر-

تور:(تور)اسم- واحد- مذکر- (۱)تهمت- تومت- الزام- ترا- (۲)ګناه- قصور- (۳)ترهه- د زړهٔ وسواس- جمع تورونه-

تور:(تور)اسم- واحد- مذکر- شکه- جالی- جال- جمع تورونه-

تورات:(تو-رات)اسم- واحد- مذکر- دَ زړی عهدنامې دَ شریعت کتاب- دَ موسی علیه السلام کتاب- د اهل کتابو مقدس کتاب-

توران:(تو-ران)اسم- (۱)تور قندهاری انګور- تور ګور- (افغانستان)-

تورانی:(تو-را-ني)اسم- واحد جمع- مؤنث- توریانکه- توریانی- تورانکه- سوره انا- وانېلکی- ماحونکه- تورانی- یو قسم توره مرغۍ چې ژوړه

www.pukhto.net

لکی لری۔

تورانے:(تو-را-نے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ لیونے۔ پاگل۔ جمع تورانی۔

تورانے:(تو-را-نے)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ چغلی مار۔ چغلی خور۔ چغلگر۔ (افغانستان)۔

تورانی:(تو-را-نی)اسم۔ واحد جمع۔ مؤنث۔ وګورئ تورانی۔

تورایته:(تو-رای-ته)اسم۔ یو قسم انګور چې د توروالی سره سره لږ غټدي سرۀ بجن هم وی۔

تورمانکه:(تور-ما-نڼ-که)اسم۔ کونډل۔

توربخن:(تور-ب-خن)صفت۔ مذکر۔ تورمخون۔ لږ شان تور۔ توروالی ته نژدې۔ سکڼ۔ سکاڼ۔

توربخی:(تور-ب-خي)اسم۔ واحد جمع۔ مؤنث۔ یو قسم کلکه بخی چې د مشین یا د ستنې په ذریعه په کپړه وهلے شي۔

توربربیښ:(تور-بر-بیښ)اسم۔ (۱)د توري پړق۔ ځلق۔ بربسا۔ (۲)تورسبس۔ دبکه دړکه۔ تورپیښ۔ دباؤ۔ غصه۔ دبانه۔

توربمبر:(تور-بم-بر)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ بوړا۔ جمع توربمبران۔

توربور:(تور-بور)اسم۔ توره بوره۔ دبانه۔

توربس:(تور-بس)اسم۔ وګورئ توربربیښ۔

تورپاپه:(تور-پا-په)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ بنفشه۔ یو قسم ګل او د ملې ونه۔ د نباتاتي نوم د پاره وګورئ بنفشه۔ جمع تورپاپي۔

تورپکی:(تور-پي-کي)اسم۔ واحد جمع۔ مؤنث۔ د تور پکی مېرمن۔ بنګلې پېغله۔

تورت:(تو-رت)اسم صفت۔ رښتونے۔ د یوې خبرې سرے۔ سپینه خبره کونکے۔ د قول پوخ۔

تورتاریک:(تور-تا-ریک)اسم۔ تک تور۔ بېخي تیاره۔ تورتیپ۔ (افغانستان)۔

تورتاوده:(تور-تاو-ده)اسم۔ شکنه۔ پیاوه۔ ساړۀ تاوده۔ تېرمې ابۀ بوراکي۔ یو مشهور خوراک۔

تورتپ:(تور-تپ)صفت۔ مذکر۔ توره تیاره۔ تورتیپ۔ د سیلۍ او طوفان په وجه جوړه تیاره۔

تورتپے:(تور-تپے)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ تورتپلے سړے۔ چیچک وهلے۔

تورتپے:(تور-تپے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ خال۔ د تندي، زني یا انګی خال۔ جمع تورتپي۔

تورتر:(تور-تر)اسم صفت۔ مذکر۔ ډېر بدنام۔

تورتک:(تور-تک)اسم صفت۔ مذکر۔ (۱)تک تور۔ بېخي تور۔ (۲)بدنام۔

تورتلب:(تور-ت-لب)اسم صفت۔ بېخي سوے۔ سوزېدلے۔ سکاړۀ شوے۔ سوے لوے۔ مؤنث تورتلبه۔ جمع مؤنث تورتلبې۔

تورتم:(تور-تم)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)توره تیاره۔ تکه توره تیاره۔ (۲)کړېږ۔ اړے ګړے۔ جمع تورتمونه۔

تورتمی:(تور-ت-مي)اسم صفت۔ واحد جمع۔ مؤنث۔ د تورتم سره نسبت لرونکې۔ (د زلفو صفت)۔

تورتوت:(تور-توت)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ تور رنګ لرونکې د توت مېوه۔ نباتاتي نوم مورس انډیکا MORUS INDICA۔

تورتوره:(تور-تو-ره)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ توری۔ سورنے۔ سورنا۔ سرینده۔ شپیلی۔ جمع تورتوری۔

تورتیپ:(تور-تیپ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ تورتم۔ تورتپ۔ توره تیاره۔ کږه کوږه۔ داسې تیارۀ چې څه پکښې نه ښې لیدے۔

تورتیپے:(تور-تي-پے)صفت۔ واحد۔ مذکر۔ تک تور۔ تورلوېږن۔ تک تور۔ د تور ګونګټ په شان۔ تور سوے ګیز۔ (افغانستان)۔

تورجاش:(تور-جاش)اسم۔ د نرګس په شان پاڼې لرونکے یو بوټے چې په خوراک ي د څاورو غلې سړي شي۔

تورڅنډے:(تور-څن-ډے)اسم۔ څېخه۔ څپخے۔ ترغټه۔ یو غرنیز ساګ۔ (افغانستان)۔

تورڅېرۍ:(تور-څې-رې)اسم۔ د لرګی توره۔

تورخټے:(تور-خ-ټے)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)اندکے۔ تورکنے۔ (۲)اخواني ته رسېدونکے۔ بزږے۔ زلموټے۔ توررنګے۔

تورخریس:(تور-خریس)اسم صفت۔ مذکر۔ تک تور۔ تورغورلانه۔ تبي مخے۔ ساحس۔

تورخېله:(تور-خي-له)اسم۔ مېنځه۔ وینځه۔

تورډریاب:(تور-دریاب)اسم۔ لوئ سمندر۔ تور بحر۔ (افغانستان)۔

تورډلے:(تور-ډلے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ یو قسم توره مرغۍ چې د ښڼو څوکې ي سپینې وي۔ تک تورکینے۔ رنجومکے۔ شینګوړے۔ سلیماني مارغه۔

تورړی:(تور-ړی)اسم صفت۔ واحد جمع۔ مذکر۔ ترړی۔ سپینه لکی لرونکې یوه توره مرغۍ۔

تورزاغ:(تور-زاغ)اسم صفت۔ واحد جمع۔ مذکر۔ (۱)تور کارغه۔ (۲)رقیب۔ غماز۔ (شاعری)۔

تورزړے:(تور-زړے)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ بدنیته۔ حاسد۔

تورزن:(تور-زن)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ توریالے۔ مړنے۔ زړۀ ور۔

تورزن توب:(تور-زن-توب)اسم۔ زړۀ ورتوب۔ تورزن والے۔ تورزن تیا۔ مړانه۔ بهادری۔

تورزن تیا:(تور-زن-تیا)اسم۔ وګورئ تورزن توب۔

تورزن والے:(تور-زن-والے)اسم۔ وګورئ تورزن توب۔

تورژبے:(تور-ژبے)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ هغه څوک چې خبرې ي لګي۔ جمع تورژبي۔ مؤنث تورژبې۔

توروږمے:(تور-وږ-مے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)تروږمی۔ خړنی۔ ماښامے۔ (۲)تکه توره تیاره۔ تورتیپ۔ تورتم۔

تورسپین:(تور-سپین)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)خړ۔ برګ۔ پټي دار۔ (۲)پټ راز۔ (۳)دروغ رښتیا۔ (۴)اصل حقیقت۔

تورسترګے:(تور-سترْ-ګے)اسم صفت- واحد- مذکر- چې سترګې يې تورې وی-
تورسترګے:(تور-سترْ-ګے)اسم- هغه ماشاهی بیماری چې په بنیادم پکښې سترګې توریږی او غړېږی-
تورسرکه:(تور-س-ر-که)اسم- واحد- مؤنث- کارغه- شیشی- توره کښوره- نظرماتې- هغه کښوره چې په لرګی کښې خوړنده وی او د فصل نه پرې مرغی ویرولے شی- تورسری-
تورسری:(تور-سْ-ری)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)ښځه- زنانه- (۲)سرتوره- بې کښه-
تورسکاڼ:(تور-سکاڼ)اسم صفت- مذکر- غنم رنګے- توربخن- تورسکڼ- نمکی تور-
تورسورن:(تور-سو-رن)اسم- مذکر- هغه اس چې توربخن سور رنګ لری- د نسواری رنګ اس-
تورسوے:(تور-سهٔ-وے)صفت- لمبو وهلے- پرېشان- خفه- دلګیر- سوے سکور- بالکل سوے-
تورشان:(تور-شان)صفت- لږ غوندې تور- توربخن-
توربورے:(تور-بو-رے)اسم- شورکے- سوری- یو قسم بوټے- (افغانستان)-
تورغاړے:(تور-غا-ړے)صفت- توره غاړه لرونکے (عموماً مرز د پاره راځی)- جمع تورغاړی-
تورغړے:(تور-غړ-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ځنګلې نه پورته برخه- مټ- (۲)د مومندو یو خاصه مېلمستیا چې د خاروی د تورغړی ښوروا پکښې په مېلمه خوړولے شی-
تورغنډان:(تور-غْن-ډان)اسم- یو قسم انګور چې رنګ يې تور او دانې يې غټې وی-
تورغوجیر:(تور-غو-جیر)اسم- سور او الوانی ګل کونکے یو قسم وابښه- (افغانستان)-
تورغوړ:(تور-غوړ)اسم- په ډیوه کښې استعمالیدونکی تېل-
تورعوږے:(تور-غو-ږے)صفت- نامرنګے-
تورغوږے:(تور-غو-ږے)اسم- واحد- مذکر- پیش پرانګ- لهٔ سپی ورکے او لهٔ پیشو غټ یو ځناور- صحرایے پیش-
تورغے:(تور-غے)اسم- واحد- مذکر- ټکالکه- تالکه- یو قسم مرغی-
تورک:(تو-رک)اسم- واحد- مذکر- د ټوپک سپرنګ- (افغانستان)- جمع تورکونه-
تورکارے:(تور-کا-رے)اسم صفت- واحد- مذکر- تورنګړے- توررنګے- تور رنګ لرونکے- جمع تورکاری-
تورکهل:(تور-کو-هل/تور-ک-هل)اسم- مذکر- تور زندان- تور کوټے-
تورکراړو:(تور-که-را-ړو)اسم- مذکر- تور ګونګټ- غوڅاړے- (افغانستان)-
تورکښ:(تور-کښ)اسم- ترکش- شخول-
تورکښ بندی:(تور-کښ-بن-دی)اسم- ترکش بندی- سپاهی توب- عسکری توب-
تورکنے:(تور-کهٔ-نے)اسم- د لوګی خیرے- تول شوے لوګے- تورکونے- تورلوے- تورکے-
تورکور:(تور-کور)اسم مرکب- کیدر کور- هغه انګور چې په غرنیزو سیمو کښې کیږی-
تورکورے:(تور-کو-رے)اسم- یو قسم غرنیز ازغن بوټے چې دارو کښې پکارولے شی- د خوږ اندام د ټکور د پاره استعمالیږی-
تورکونے:(تور-کو-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- توررنګے- بدمخے- اندکے-
تورکونے:(تور-کو-نے)اسم- تورلوے- تورکے-
تورکه:(تو-ر-که)اسم- واحد- مؤنث- شمشوره- زرزرکه- ګڼاښه- یو قسم مرغی- جمع تورکې-
تورکی:(تو-ر-کی)اسم- سورخی- د بوټو یو مرض چې بوټے رژوی-
تورکی:(تور-کی)اسم- واحد جمع- مؤنث- د یو قسم کب نوم-
تورکے:(تو-ر-کے)اسم- وکورئ تورکے- (افغانستان)-
تورکے:(تور-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)د غنمو او اوربشو د یو مرض نوم چې د هغې په سبب يې وږی تور شی- (۲)د لرګی یا د اور د تاؤ په وجه حور شوی تور چالونه یا مده دوړه-
تورکے:(تور-کے)اسم- (۱)حرف- تورے- (۲)تور شان- (۳)د کښې نه جوړه توره شان مرغی چې د شمشورو د نیولو د پاره په ونه کښې تړلے کیږی-
تورګاړ:(تور-ګاړ)اسم- (۱)ښکار- اشقار- (۲)هغه کاڼیزه علاقه چې تور کاڼی لری-
تورګړدے:(تور-ګړ-دے)اسم- واحد- مذکر- د وریښمو یو قسم کشیده کاری- جمع تورګړدی-
تورلال:(تور-لال)اسم- د تور رنګ یو قسم انګور-
تورلاوڼ:(تور-لا-وڼ)اسم- د تور رنګ یو قسم پخکړے چې یوسفزیو کښې پخولے او خوړلے شی-
تورلشی:(تور-ل-شی)اسم- وګورئ تورلشے-
تورلشے:(تور-ل-شے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم غنم چې د وږی لشه يې توره وی- تورلشی-
تورلمی:(تور-لمْ-می)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ تورلمے-
تورلمے:(تور-لمْ-مے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ګورګښ- غسه- ګورکټې- تورلمی- هغه ځناور چې نوے مړے لهٔ قبره راوباسی- (۲)ځمکه- دله ځفک- حسه- جمع تورلمی- (افغانستان)-
تورلمے زبرن:(تور-لمْ-مے-زب-رن)اسم- هغه اس چې پتوبونه يې تور وی-
تورلوے:(تور-لهٔ-وے)اسم- وګورئ تورکنے-
تورلینګے:(تور-لینګ-ګے)صفت- (۱)توری پڼې لرونکے- (۲)د اباسینډ نه پورې غاړه وسېدونکی تور خلق- (۳)صدو- (۴)کافر- جمع تورلینګی-

www.pukhto.net

تورم:(تُو-رم،تَـ-رم)اسم- تُرم- تورمی- سُرنا- جمع تورمونه-
تورمار (تُور-مار)اسم صفت- مذکر- توررن- بهادر-
تورمار:(تور-مار)اسم صفت- مذکر- خطرناک دشمن-
تورم چی:(تو-رم-چی)اسم صفت- واحد- مذکر- تورم غږونکے- جمع تورم چیان-
تورمخکه:(تور-مخ-که)اسم- اللهو- شین غښتنه- تورمخے داني غوری- د باران د پاره د ماشومانو الله پاک ته زاری- چې یو ماشوم له يې مخ تور کړے وی او کور په کور ګرځي- تورمخے-
تورمخے:(تور-مخ-خے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)د تور مخ خاوند- (۲)ګناهګار- شرمنده- (۳)غمار- سخاء شرمنده- شیطان- ورامکارے- (۴)وګورئ تورمخکه-
تورن:(تو-رن)اسم صفت- مذکر- (۱)د تولی مشر- (۲)تورزن- تکړه-
تورن:(تو-رن)اسم صفت- مذکر- هغه څوک چې تور پرې لګېدلے وی-
تورنج (تو-رنج)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ترنج- جمع تورنجان-
تورنګ:(تو-رنګ)اسم- واحد- مذکر- د ځکر نه جوړ بیګل چې د هری قامی حکړې نه وړاندې لکه د جنګ د نقاری غږولے شي- جمع تورنګونه-
تورنګړے:(تو-رنګ-ړے)اسم صفت- واحد- مذکر- توربخن- توررنګے- جمع تورنګړی-
تورواله:(تور-والے)اسم- مذکر- تورړنګه- د رنګ توروالے- بدنامی- تومت- تور-
توروانجه:(تور-وان-جه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ توروانخه-
توروانخه:(تور-وان-خه)اسم- واحد- مؤنث- توروانخې- توري داني لرونکے یو بوټے چې په دارو او مسالو کښې پکاریږی- توروانجه- نباتاتی نوم کوری ابیدرم سیټی وم CORIANDRUM SATIVUM-
توروانخې (تور-وان-خې)اسم- وګورئ توروانجه-
تورورسپین (تو-رو-سپین)اسم- (۱)اصل حقیقت- (۲)دروغ رښتیا-
تورول:(تو-ر-ول)مصدر متعدی- (۱)تور رنګ ورکول- تور کول- (۲)تهمتي کول- ملزم کول- قابل مذمت ګرځول-
تورولے:(تو-ر-ولے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تورولي- مؤنث توروله- وګورئ تورول-
تورون:(تو-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ تورول-
تورونکے (تو-ر-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تورونکي- مؤنث تورونکې- وګورئ تورول-
تورونګ:(تو-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تورول-
تورونه (تو-ر-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ تورول-
توروبښتۀ (تور-وبين-تۀ)اسم- د پټ اندم ویښته- رومي-
توره:(تُو-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د اُسپنې او فولادو نه جوړه د پخوانی زمانې یوه جنګی وسله چې څوکه او اړخونه یې تېره وی او شکل یې عام طور سره د میاشتې په شان وی- (۲)زړۀ ورتیا- مړانه- غیرت- جمع تُوري-
توره:(تو-ره)اسم- (۱)د قامي لښکر غنده- (۲)دښمنی- (۳)د ګوانډیانو یا همسایو نه د وادۀ په موقع د خان یا ملک د مفوی نه څۀ پیسې اخستنه او په بدل کښې ناوې ته څادر یا جامې جوړونه- (۴)تهمت- بدنامی- (۵)قانون- رواج- (۶)ښکاره- څرګند- (۷)د پښتنو یو رسم چې د ناوې د رخصتۍ په وخت یو مقرره روپی اخلی چې په کسب ګرو یا کار کونکیو ی تقسیموی- (۸)د تانبې پیسه- (۹)ناکرلې زمکه- جمع توري-
توره:(تو-ره)صفت- (۱)د تور مونث- وګورئ تور- (۲)- اسم:د تماش یوه لوبه- (۲)توره وریځ-
توره (تو-ره)اسم- واحد- مؤنث- په یونانی طب کښې د سودانی مادې نوم- جمع توري-
توره انا:(تو-ره-انا)اسم- واحد- مؤنث- کرېڅې- تورانکه- تورانی- تورانی- پانګ لګی- بربیته- توره انی-
توره انی:(تو-ره-انی)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ توره انا-
توره ایبه:(تو-ره-ای-به)اسم- واحد- مؤنث- (۱)تورے- (۲)د توری د یوې مارزغی نامه-
توره بوه:(تو-ره-ب-وه)اسم- توره تیاره- تورتیپ- تروږمی- توره وریځ-
توره بلا:(تو-ره-ب-لا)اسم- واحد- مؤنث- لویٔ آفت- لویٔ مصیبت- تکلیف- بده بلا-
توره بلبله:(تو-ره-بل-ب-له)اسم- واحد- مؤنث- تورانی- یوه توررنګې مرغۍ-
توره بمبره:(تو-ره-بم-ب-ره)اسم- مؤنث- بوراء
توره بوره:(تو-ره-بو-ره)اسم- واحد- مؤنث- بهانه- ټګی- چل ول-
توره بی بی:(تو-ره-بی-بی)اسم- واحد- مؤنث- یو تور مارغۀ چې د شپې خوږه اوازونه کوی-
توره پاڼه:(تو-ره-پا-ڼه)اسم- واحد- مؤنث- بنفشه- د ارغوانی رنګ ګل لرونکے یو بوټے- نباتاتی نوم د پاره وګورئ بنفشه- جمع توري پاڼې-
توره پاڼے:(تو-ره-پا-ڼے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم بوټے چې د شولو بوزغلې له د اوم ورکولو د پاره بخولے شي-
توره تبه:(تو-ره-تب-به)اسم- واحد- مؤنث- (۱)لویه تبه- تپ محرقه- ټائیفائډ- تنکی- (۲)پاني فس- (افغانستان)-
توره تبی:(تو-ره-تب-بی)اسم- (۱)توره تږه- تور تبخے- توره کنډه- توره تیمه- (۲)رنبه-
توره تتی:(تو-ره-تت-تی)اسم- واحد- مؤنث- بلبله- بلبل- یو خوږ اوازه مرغی- جمع توری تتی-
توره ترخه:(تو-ره-تر-خه)اسم- تور مرچ- (افغانستان)- نباتاتی نوم د پاره وګورئ مرچ-
توره تړۍ:(تو-ره-تړ-ۍ)اسم- مؤنث- ووده لکی لرونکې یوه توره مرغی-

زبر(ح-مفـ-ره)، زورکے(شل)، پېش(تو-کا-ره)، زمر(ک-ښا-د)، جزم(شکون)، ٔ(ز-وه)، ۀ(یو-سپي-دۀ)

www.pukhto.net

توره تره:(تو-ره-ت-ره)اسم- وګورئ توره تبی-

توره تیاره:(تو-ره-تیا-ره)اسم- (۱)تورتیپ- تورتم- تپه تیاره- (۲)اوږي ګرڅي-

توره تیپه (تو-ره-تي-په)اسم- تورتم- تپه تیاره-

توره تمسه:(تو-ره-تمس-سه)اسم- پېر زيات مقوت- کرکه-

توره تڅلې(تو-ره-ت-څلې)اسم- بخلي- شنه تڅلي-

توره ګله:(تو-ره-ګ-له)اسم- د ژمي ګلمه سخته يخني- هغه خوبست ورځي چي پکښې ډيره يخني وي-

توره څوکه:(تو-ره-څو-که)اسم- واحد- مؤنث- د غر پاسنی سر- د غرهٔ تور سر- جمع توري څوکي-

توره دار:(تو-ره-دار)اسم صفت- مذکر- بدمنی- هغه څوك چي تور پری لګېدلی وي- بدنام-

توره دانه (تو-ره-دا-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خوراکي تنکی- (۲)هودوره- جمع توری داني-

توره دربله:(تو-ره-درب-له)اسم- واحد- مؤنث- توره سپه- تورتیپه- توره دربه- توره تیاره- تورتم- جمع توري دربلي- (افغانستان)-

توره دربه:(تو-ره-در-به)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ توره دربله- جمع توري دربي-

توره دره:(تو-ره-د-ره)اسم- واحد- مؤنث- توره تختي- توره تحته- جمع توري دړي-

توره سهینه:(تو-ره-سهي-نه)اسم صفت- د تور سهين مؤنث- اصل حقیقت- تیارهٔ او رڼا- شپه او ورځ- جمع توری سهيني-

توره شمه:(تو-ره-شم-مه)اسم- واحد- مؤنث- توره خپمه- توره کبږدی- تاګی- جمع توری شمي- (افغانستان)-

توره غاړه:(تو-ره-غا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ توره تخلي- جمع توری غاړي-

توره غنه:(تو-ره-غن-نه)اسم- واحد- مؤنث- کوکي- غڼبل- غڼي- جمع توری غني-

توره کجله:(تو-ره-ک-ج-له)اسم- واحد- مؤنث- توره او خړه چرچره- چمچمه- جمع توري کجلي- (افغانستان)-

توره کنده:(تو-ره-کن-ده)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ تبی- جمع توری کندي-

توره لښته:(تو-ره-لښ-ته)اسم- واحد- مؤنث- د الوبخاری په شان يوه ونه او د هغي ميوه- جمع توري لښتي-

توره مالګه:(تو-ره-مال-ګه)اسم- تور رنګ لرونکي يوه مالګه-

توره مرغه:(تو-ره-مر-غه)اسم- رڅه- غوزه- يو قسم وابنهٔ- جمع توري مرغي- (افغانستان)-

توره وښکه:(تو-ره-وښ-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)توري وښکي- تور مويز- سرهٔ مويز- (۲)د ملګانو يوه لوبه چي د دائري په شکل کيږي- جمع توري وښکي-

توره وښکی:(تو-ره-وښ-کي)اسم- واحد- مؤنث- توره اربړه- د نباتاتي نوم د پاره وګورئ اربړه- جمع توری وښکی-

توری:(تو-ری)اسم- جمع- مذکر- د ستر ګو ککی-

توری:(تو-ری)اسم- جمع- مذکر- کډه- د کور سامان-

توری:(تو-ری)اسم- جمع- مذکر- ساکي- سیاهي- تورکي- هغه تور رنګ چي خط پری ليکلی شي- (مترو که)-

توری وران:(تو-ری-وران)اسم صفت- خپله پوله زمکه خرڅونکی چي نوم يې د مال له کاغذاتو وران شي-

توريالی:(تور-يا-لی)اسم صفت- واحد- مذکر- بهادر- بادرهٔ مېړنی- توروزن- د توري مېړنی- جمع توريالي-

توريالیتوب:(تور-يا-لي-توب)اسم- مذکر- بهادری- تکړه توب- توروزن والی-

توريانکه:(تور-يا-ن-که)اسم- واحد- مؤنث- باجونکه- بوچونکه- تورانی- توره اماه- تورابی- توریانی- توریابی- يو قسم تور رنګي مرغی- جمع توريانکي-

توریاني:(تور-يا-ني)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ توريانکه-

توریابی:(تور-يا-بي)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ توريانکه-

تورید:(تو-رید)اسم- راوړنه- وارډونه-

توریدول:(تو-ری-د-ول)مصدر متعدی- راوړل- واردول-

توریزی:(تو-ری-زی)اسم- واحد- مذکر- وروکي نکي لرونکي يوه مرغی- جمع توريزي-

توری:(تو-ری)اسم صوت- چغې- کوری- چيغې- چحې- د سپي د شړلو اواز-

توری امه:(تو-ری-امه)اسم مرکب- (۱)يوه بيماري چي د ستر ګو نه پکښي امهٔ بهيري- (۲)د انديمان نکوبار جريري، چي پخوا به يې قېديان ملته لېږل- (۳)رواني اپه- له چينو نه راوتلي هغه اپه چي رمکي پری خروبيږي-

توری ایکی:(تو-ری-ای-کی)اسم- جمع- مؤنث- ماتي پېسي- توري پېسي-

توری تربي:(تو-ری-تر-بي)اسم- جمع- مؤنث- وګورئ توری تپي-

توری تیاري:(تو-ری-تيا-ري)اسم- مؤنث- (۱)د توره تیارهٔ جمع- (۲)تورنه- تورتیپ- توری تيري- (۳)بدنصيبي- تکليفونه-

توری ستر ګي:(تو-ری-ستر-ګي)اسم صفت- جمع- مؤنث- (۱)هغه ستر ګي چي ککی يې تور وي- (۲)ښکلي ستر ګي-

توری خاوري:(تو-ري-خا-وري)اسم- جمع- مؤنث- (۱)قبر- ګور- (۲)مېړي خاوري-

توری نوری:(تو-ري-نو-ري)اسم مرکب- ظلم- نابنادي- ناښوني- تکليف-

تورېت:(تو-رېت)اسم- واحد- مذکر- وګورئ تورات-

تورېت:(تو-رېت)اسم- واحد- مذکر- د ترويت بړ قرات- وګورئ ترويت-

توربتون:(تو-ری-تون)اسم- واحد- مذکر- تروبتون- د ستورو علم-

زبر "(ح-بهٔ-ره)- وروکبی "(شل)- پېښ "(تو-کا-ره)- ومر "(ک-تاب)- جزم "(شکون)- ٔ(و-ره)- ۱(هو-سې-دهٔ)

www.pukhto.net

(افغانستان)۔

توربتي:(تو-ربِ-تي)اسم۔ مذکر۔ ترویتي۔ فال بین۔ فال کتونکے۔ د علم نجوم ماهر۔

توربدل:(تو-ربِ-دل)مصدرِ لازم۔ ویربدل۔ بارېدل۔ تربدل۔ ترهېدل۔ وحشي کېدل۔

توربدل:(تو-ربِ-دل)مصدرِ لازم۔ (۱)رنګ توربدل۔ تور رنګ ورکولے کېدل۔ (۲)بدنامېدل۔ شرمنده کېدل۔ تور پورې کېدل۔ (۳)کرکه پیدا کېدل۔

توربدن:(تو-ربِ-دن)حاصلِ مصدر۔ وګورئ توربدل۔

توربدنګ:(تو-ربِ-دَنګ)حاصلِ مصدر۔ وګورئ توربدل۔

توربدنه:(تو-ربِ-دهٔ-نه)حاصلِ مصدر۔ وګورئ توربدل۔

توربدونکے:(تو-ربِ-دُون-کے)اسمِ فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع توربدونکي۔ مؤنث توربدونکې۔ وګورئ توربدل۔

توربدهٔ:(تو-ربِ-دهٔ)حاصلِ مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه۔ وګورئ توربدل۔

توربګی:(تو-ربِ-ګي)اسم۔ واحد/جمع۔ مؤنث۔ پرپرکے۔ بمبرکے۔ پتنګ۔

توری:(تـو-ری)اسم۔ واحد بجمع۔ مؤنث۔ د اوړي د موسم یوه سبزي۔ نباتاتي نوم کوکیومس اے کیوټیکولس (CUCUMIS ACUTANGULUS: ROXB)۔

توری:(تُو-ری)اسم۔ واحد/جمع۔ مؤنث۔ سرما۔ سرېا۔ تورنګ۔ توربا۔

تورے:(تو-رے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)معدې سره نژدې یو نرم او رینه صفا کوونکے اندام۔ (۲)د دغه اندام د بارسوب بیماري۔

تورے:(تو-رے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ حرف۔ ټکے۔ جمع توري۔

تورے:(تو-رے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ پوزے۔ لنډیرے۔

تورے:(تُو-رے)اسم صوت۔ کورې۔ چچې۔ د سپي د شړلو اواز۔

توزے:(تو-رے)اسم۔ (۱)د شیخ ملي د دفتر د ویش آخري اکائي۔ (۲)د روپۍ څلېریشتمه برخه۔

توړ:(تُوړ)اسم۔ تر اخره۔ اخره پورې۔ (افغانستان)۔

توړ:(توړ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ زقم۔ کورغدل۔ اینکرغنه۔ (م۔ هندی)۔

توړتوړو:(تُوړ-تُو-ړو)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)د انسان او حیوان د مری کرېندے هډوکے۔ (۲)د سرنا په شکل بیګل۔ جمع توړتوړوګان۔

توړتوړے:(تُوړ-تُو-ړے)اسم صفت۔ توړے۔ ګنګوړے۔ تړتړے۔

توړشک:(تُوړ-شک)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ پېڅور۔

توړه:(تو-ړه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ تلمه۔ خلته۔ کېسه۔ کڅوړی۔ تېلی۔ (م۔ هندی)۔

توړه:(تو-ړه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ سینګله۔ د پښو یو پسول۔ جمع توړې۔

توړه:(تو-ړه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ بانی۔ پناتی۔ جمع توړې۔

توړیزے:(تو-ړی-زے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ تروروزے۔ د مور له طرفه د ترور خوئ۔ جمع توړیزي۔

توړیدار ټوپک:(تو-ړی-دار-ټو-پک)اسم۔ بانیدار ټوپک۔ پټاخېدار ټوپک۔

توړی:(تو-ړی)اسم۔ واحد بجمع۔ مؤنث۔ ترور۔ د مور خور۔

توړے:(تو-ړے)اسمِ صفت۔ واحد۔ مذکر۔ کرکیچو۔ هغه سړے چې ژبه ئې سلې۔ لل۔ ګونګ۔ تړژبے۔ جمع توړي۔

توزار:(تو-زار)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د تیرا د ښځو پړونے۔ برقع۔ څادر۔ جمع توزاروونه۔

تورن:(تو-رن)اسمِ صفت۔ مذکر۔ (۱)تیزن۔ تېزن۔ تېرمار۔ (۲)ویرېدونکے۔ دارن۔ (۳)خوار۔ سپک۔ سپونګے۔ کېډے۔ (۴)بې ننګه۔ بې پته۔ بې عار۔

توزے:(تو-زے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)هغه کېږه چې د تمبو په سرګنډلې شوې وي۔ (۲)کوني کبر۔ یوه حشره چې وړوې وړوې پښې لري۔

توژنه:(تو-ژنه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ کبل۔ چمن۔ شینکے۔ یو قسم واښهٔ۔ (افغانستان)۔

توږل:(تو-ږل)مصدرِ متعدی۔ (۱)تراشل۔ رنده کول۔ ترویښل۔ (۲)میل۔ مښل۔ لګول۔

توږلے:(تو-ږهٔ-لے)اسمِ مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ جمع توږلي۔ مؤنث توږلې۔ وګورئ توږل۔

توږلے:(تُو-ږهٔ-لے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ توتنکے۔ توبتکے۔ بوره۔ پترکے۔ جمع توږلي۔

توږمه:(تو-ږمه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ تراش۔ رنده۔ هغه آله چې لرګے پرې هوارولے شي۔

توږن:(تو-ږن)حاصلِ مصدر۔ وګورئ توږل۔

توږند:(تو-ږند)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ رنده۔ هغه آله چې لرګے پرې هوارولے شي۔ تراش۔ توږنے۔ خراد۔ توږی۔ توږندے۔ جمع توږندي/توږندونه۔ (افغانستان)۔

توږندے:(تو-ږن-دے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ توږند۔ جمع توږندي۔ (افغانستان)۔

توږنګ:(تو-ږنګ)حاصلِ مصدر۔ وګورئ توږل۔

توږنه:(تو-ږنه)حاصلِ مصدر۔ وګورئ توږل۔

توږنے:(تو-ږنے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ توږند۔ (افغانستان)۔

توږون:(تو-ږون)اسم۔ تراش۔ توږنه۔ سولونه۔

توږونکے:(تو-ږون-کے)اسمِ فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع توږونکي۔ مؤنث توږونکې۔ وګورئ توږل۔

توږونے:(تو-ږو-نے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ پښخه تراش۔ د خټې د توږنې رمبے۔ جمع توږونې۔

توږی:(تو-ږی)اسم۔ واحد بجمع۔ مؤنث۔ رنده۔ توږندے۔

توس:(تُوس)اسم۔ (۱)چوس۔ څوس۔ پټه لګونه۔ د سپي بوئ وهنه۔ (۲)یو قسم نرمه، نازکه او ښکلې شړی۔ (افغانستان)۔

توس:(توس)اسم۔ (۱)زیاته تنده۔ (۲)ګرمي۔ تاؤ۔ توش۔ (افغانستان)۔

توسط:(تَـوَس-سُط)اسم۔ واسطه۔ ذریعه۔ وسیله۔

www.pukhto.net

توسعه:(تو-س-عه)اسم- توسیع- ارتوالے- فراختیا- (م- عربي)-

توسل:(تَ-وَس-سُل)اسم- دَ څۀ څیز پۀ وسیله سره چا ته یا څۀ ته نژدې کېدنه- اړیکه پیدا کونه- (م- عربي)-

توسن:(تَو-سن)اسم- واحد- مذکر- سرکش اس- (م- فارسي)-

توسن:(تو-سَن)اسم- وجه- مُوَب- سبب- (افغانستان)-

توسن:(تُو-سَن)اسم صفت- مذکر- (۱)بوڼ مار سپے- چوسناک سپے- چوسکن- (۲)وسترګے سپے- توسند- توسندک-

توسنتوب:(تو-سن-توب)اسم- توسندتوب- توبېدنه- دَ ګرمۍ لۀ کبله زمکه، زړوکے یا مرې ژر ژر وچېدنه-

توسند:(تُو-سَند)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ توسن ۲- مؤنث توسنده- جمع مؤنث توسندې-

توسند:(تُو-سَند)اسم- (۱)وچه مېره- خشکه بېدیا- مؤنث توسنده- جمع مؤنث توسندې- (۲- صفت)غصه ناک- (۲)تندې اخستے- تندې او ګرمي نه سوے الوے- تاوسنده-

توسندتوب:(تُو-سند-توب)اسم- وګورئ توسنتوب-

توسندک:(تو-سن-دک)اسم صفت- وګورئ توسن ۲-

توسنده:(تو-سن-ده)اسم صفت- تاؤ اخستے- ګرمي اخستے- غصه ناک- وګورئ توسند ۲-

توسنوالے:(تو-سن-وا-لے)اسم- توبوخه- زیاته ګرمي-

توسنی (تَو-سۀ-نې)اسم- مستي- سرکشي-

توسول (تُو-س-وَل)مصدر- پرسول-

توسول:(تُو-سَ-وَل)مصدر- (۱)مینه، خواهش او تلوسه پاروَل- (۲)پسخول- (۲)غصه کول- (۴)کړول-

توسولے:(تو-سَ-وَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع توسولي- مؤنث توسولې- وګورئ توسول-

توسون:(تُو-سَ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ توسول-

توسونکے:(تو-س-وُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع توسونکي- مؤنث توسونکې- وګورئ توسول-

توسونګ:(تُو-سَ-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ توسول-

توسونه:(تُو-سَ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ توسول-

توسه:(تو-سه)اسم- واحد- مؤنث- وسیله- سوب- علت- ذریعه- سبب-

توسیع:(تو-سیع)اسم- (۱)ارتوالے- فراخي- پراخي- ارتونه- (۲)زیاتوالے- (م- عربي)-

توسېدل:(تو-سې-دَل)مصدر لازم- (۱)ترسېدل- څۀ څیز ته لېواله کېدل- چوسکېدل- ګبنې اخستل- لړزېدل- (رعشه تلاشي)- (۲)پن پۀ غلانځه کبنې پاتې کېدل او دَ هغې پۀ وجه دَ غلانځې پړسېدل او کلکېدل- (افغانستان)-

توسېدل:(تُو-سې-دَل)مصدر لازم- تهېدل- چوسېدل- ګوسېدل- خوړېدل- کړېدل- دَ څۀ څیز پۀ پیدا کېدو پسې نا ارامه کېدل-

توسېدلے:(تو-سې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع توسېدلي- مؤنث توسېدلې- وګورئ توسېدل-

توسېدلے:(تو-سې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع توسېدلي- مؤنث توسېدلې- وګورئ توسېدل-

توسېدن:(تو-سې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ توسېدل-

توسېدن:(تو-سې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ تُوسېدل-

توسېدنګ:(تو-سې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ توسېدل-

توسېدنګ:(تُو-سې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ تُوسېدل-

توسېدنه:(تُو-سې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ تُوسېدل-

توسېدنه:(تو-سې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ تُوسېدل-

توسېدونکے:(تو-سې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع توسېدونکي- مؤنث توسېدونکې- وګورئ توسېدل-

توسېدونکے:(تو-سې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع توسېدونکي- مؤنث توسېدونکې- وګورئ تُوسېدل-

توسېدۀ:(تو-سې-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ توسېدل-

توسېدۀ:(تو-سې-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ تُوسېدل-

توش:(توش)اسم- ګرمي- تاؤ- تُوس-

توشدان:(توش-دان)اسم- واحد- مذکر- غاړکې- کمربند- ګردنۍ- کمرېټه- دَ څرمنې هغه پټۍ چې کارتوس پکښې اېښودے شي- جمع توشدانونه-

توشک:(تو-شک)اسم- واحد- مذکر- تورشک- تولاتې- جمع توشکونه-

توشل:(تو-شل)اسم- (۱)رغے- درګ- دړګے- هغه سطح چې پېره ژوره نۀ وي- (۲)تپت-

توشول:(تو-ش-ول)مصدر متعدي- توسول- کشکارل- پاروَل- ښکارل- شکارل- سپے پۀ څۀ پسې کول-

توشولے:(تو-ش-وَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع توشولي- مؤنث توشولې- وګورئ توشول-

توشون:(تو-ش-وَن)حاصل مصدر- وګورئ توشول-

توشونکے:(تو-ش-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع توشونکي- مؤنث توشونکې- وګورئ توشول-

توشونګ:(تو-ش-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ توشول-

توشونه:(تو-ش-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ توشول-

توښ ۱:(توښ)صفت- متوجه- خبر- پام لرونکے- فکر کونکے- ګک- (افغانستان)-

توښ ۲:(توښ)اسم- واحد- مذکر- دَ کټوې یا دَ دېګ بړاس- تاؤ- بخار- جوش- تپ- توبسم- توښت-

ئ: (ځي-ږل)، ئ: (هې-وه-ول)، ی: (پیا-لې)، ے: (تن-دے) تفصیل دَ پاره وګورئ تشریحات صفحه ۹

www.pukhto.net

توښت:(توښت)اسم- وګورئ توښ ۲-

توښدان:(توښ-دان)اسم- واحد- مذکر- توشدان- کمربند- کمرېته- کړدنۍ- هغه تېلۍ يا د څرمن جوړه پټۍ چې کارتوس پکښې اېښودے شي- جمع توښدانونه-

توسم:(تو-سم)اسم- تاز- بړس- وګورئ توس ۲- (افغانستان)-

توسند:(تو-سند)صفت- ګرم- تود-

توشه:(تو-شه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د لارې خرڅ- سفرخرچه- خوږے- (۲)د خوراک سامان-

توشه خانه:(تو-شه-خا-نه)اسم- ګودام- ګدام- د کور هغه کوټه چې مات ګډ څيزونه او ځنې نور سامان پکښې اېښودے شي-

توښۍ:(تو-ښۍ)اسم- واحد جمع- مؤنث- د لرګي ونلو بخارۍ- چمس-

توصيف:(تو-صيف)اسم- تعريف- ستاينه- صفت کونه- (م- عربي)-

توصيه:(تو-صي-يه)اسم- وصيت- لارښونه- نصيحت- (م- عربي)-

توضيح:(تو-ضيح)اسم- واضح کونه- ښکاره کونه- شرح کونه-

توطيه:(تو-طي-يه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)تمهيد- توتيه- (۲)چل- ټګي- دسيسه- (۳)تيارونه- اماده کونه- (۴)وارونه- نرمونه او اسانونه- (م- عربي)-

توغ:(توغ)اسم صفت- مذکر- شابوکے- کروپ- ملاتېړے- ټيټے-

توغ:(توغ)اسم- واحد- مذکر- تغ- جنډه- نشان- علم- بيرغ- جمع توغونه- (م- ترکي)-

توغ:(توغ)اسم- (۱)هغه ميلمستيا چې دريمګړے يې د دوو کسانو د پخلا کولو د پاره کوي- (۲)توبغ- کومک- مرسته-

توغچي:(توغ-چي)اسم صفت- واحد- مذکر- نشانچي- علم بردار- جنډه يا بيرغ په لاس کښې وچت وړونکے- بيرغچي-

توغړول:(توغ-ړ-ول)مصدر متعدي- تغړول- په خاورو کښې لغړول- په څه څيز کښې ګوذارول او اګرده کول-

توغړون:(توغ-ړ-ون)حاصل مصدر- تغړون- وګورئ توغړول-

توغړونکے:(توغ-ړ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع توغړونکي- مؤنث توغړونکې- وګورئ توغړول-

توغړونګ:(توغ-ړ-ونګ)حاصل مصدر- تغړونګ- وګورئ توغړول-

توغړونه:(توغ-ړ-و-نه)حاصل مصدر- تغړونه- وګورئ توغړول-

توغړېدل:(توغ-ړې-دل)مصدر لازم- د تغړول لازمي مصدر- تغړېدل- په خاورو کښې لغړېدل-

توغړېدلے:(توغ-ړې-دَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع توغړېدلي- مؤنث توغړېدلې- وګورئ توغړېدل-

توغړېدن:(توغ-ړې-دن)حاصل مصدر- وګورئ توغړېدل-

توغړېدنګ:(توغ-ړې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ توغړېدل-

توغړېدنه:(توغ-ړې-دَنه)حاصل مصدر- تغړېدنه- وګورئ توغړېدل-

توغړېدونکے:(توغ-ړې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع توغړېدونکي- مؤنث توغړېدونکې- وګورئ توغړېدل-

توغړېدهٔ:(توغ-ړې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ توغړېدل-

توغل:(تو-غل)اسم- (۱)پلا او باران- جړی- زول- واورېنې سيلۍ- (۲)توغم- هغه لښتے چې د اس د زين لاندې اچولے شي- (افغانستان)-

توغم:(تو-غم)اسم- واحد- مذکر- د زين لاندې لمڅے- زين پوښ- عرقګير- ارغکير-

توغمه:(توغ-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دغمه- تغمه- (۲)درد- غصه- غضب-

توغمه ناک:(توغ-مه-ناک)اسم صفت- مذکر- غصه ناک- قهرژن-

توغندے:(تو-غن-دے)اسم- تغندے- راکټ- (افغانستان)-

توغندے:(تو-غن-دے)اسم- واحد- مذکر- هغه څيز چې د مخصوص ليکې يا حد نه بهر وتلے وي يا وځي-

توغول:(تو-غ-ول)مصدر متعدي- (۱)ګوزارول- رابعول- راغرځول- (۲)په پټه ډزول-

توغولے:(تو-غ-وَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع توغولي- مؤنث توغولې- وګورئ توغول-

توغون:(تو-غ-ون)حاصل مصدر- وګورئ توغول-

توغونکے:(تو-غ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع توغونکي- مؤنث توغونکې- وګورئ توغول-

توغونګ:(تو-غ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ توغول-

توغونه:(تو-غ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ توغول-

توغه:(تو-غه)اسم- واحد- مؤنث- تاغه- تاغو- تاغ- تاغکه- تاخوم- يو قسم ونه چې کلک لرګے او خوږلورې دانې لري-

توغه:(تو-غه)اسم- واحد- مؤنث- عوض- بدله- کفاره- جمع توغې- (افغانستان)-

توغهٔ:(تو-غهٔ)اسم- واحد- مؤنث- تغو- توره يا زيړه مېوه لرونکې يوه ونه او د هغې مېوه- يو قسم اينځر- د نباتاتي نوم د پاره وګورئ اينځر-

توغېدل:(تو-غې-دل)مصدر لازم- (۱)د غلا په نيت څهٔ څيز پټې ته کول- (۲)په غلا تلل-

توغېدلے:(تو-غې-دَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع توغېدلي- مؤنث توغېدلې- وګورئ توغېدل-

توغېدن:(تو-غې-دن)حاصل مصدر- وګورئ توغېدل-

توغېدنګ:(تو-غې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ توغېدل-

توغېدنه:(تو-غې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ توغېدل-

توغېدونکے:(تو-غې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع توغېدونکي- مؤنث توغېدونکې- وګورئ توغېدل-

توغېدهٔ:(تو-غې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه-

وکورئ توعدل-

توفير:(تو-فير)اسم- ګټه- منافع- د اجارې نه حاصله شوې ګټه- اضافه کونه- بچت- کثرت- (م- عربي)-

توفيو (تو-فيو)اسم- وس- طاقت- همت- (م- عربي)-

توقره:(تو-ق-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ توکه-

توقع:(ت-وَق-قُع)اسم- (۱)اميد- (۲)غښتنه- (۳)انتظار- (۴)ايسار- (م- عربي)-

توقف:(ت-وَق-قُف)اسم- (۱)پاتېدنه- ايساربدنه- (۲)صبر- وقفه- (م- عربي)-

توقل:(تو-قل)اسم- د توکل معنی- توکل- اعتبار-

توقه:(تو-قه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ توکه-

توقير:(تو-قير)اسم- عزت- احترام- تعظيم- (م- عربي)-

توقيع:(تو-قيع)اسم- (۱)څهٔ شی ساندې بنده لیکونه- (۲)شاهي فرمان- (م- عربي)-

توقيف:(تو-قيف)اسم- (۱)واپس کونه- ټالونه- پسته کونه- (۲)بندي کونه- کښېنونه- حبطونه- (م- عربي)-

توقيف خانه:(تو-قيف-خا-نه)اسم- بندي خانه- (افغانستان)-

توقيفول:(تو-قي-ف-ول)مصدر متعدي- بندي کول- قېدول- بندیوان کول- کښېنول- (افغانستان)- (م- عربي)-

توقيفولے:(تو-قي-ف-وَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع توقيفولي- مؤنث توقيفولې- وګورئ توقيفول-

توقيفون:(تو-قي-ف-ون)حاصل مصدر- وګورئ توقيفول-

توقيفونکے:(تو-قي-ف-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع توقيفونکي- مؤنث توقيفونکې- وګورئ توقيفول-

توقيفونګ:(تو-قي-ف-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ توقيفول-

توقيفونه:(تو-قي-ف-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ توقيفول-

توقيفېدل:(تو-قي-فې-دل)مصدر لازم- بندي کېدل- کښېناستل- (م- عربي)-

توقيفېدلے:(تو-قي-فې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع توقيفېدلي- مؤنث توقيفېدلې- وګورئ توقيفېدل-

توقيفېدن:(تو-قي-فې-دن)حاصل مصدر- وګورئ توقيفېدل-

توقيفېدنګ:(تو-قي-فې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ توقيفېدل-

توقيفېدنه:(تو-قي-فې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ توقيفېدل-

توقيفېدونکے:(تو-قي-فې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع توقيفېدونکي- مؤنث توقيفېدونکې- وګورئ توقيفېدل-

توقيفېدهٔ:(تو-قي-فې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ توقيفېدل-

توک ۱:(توک)اسم- توخمے- نسل- جروه- ريښه- خاندان-

توک ۲:(توک)اسم- واحد- مذکر- (۱)اسم- توګ- پول- (۲)ارمک- (۳)قبز- (۴)د پرچون صد-

توک ۳:(توک)اسم- (۱)توکې- توکاني- غوږکې- (۲- اسم صوت)د توکلو اواز-

توکارل:(تو-کا-رل)مصدر متعدي- سپے رابلل- سپي ته توتو کول-

توکارلے:(تو-کا-رَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع توکارلي- مؤنث توکارلې- وګورئ توکارل-

توکارن:(تو-کا-رن)حاصل مصدر- وګورئ توکارل-

توکارنګ:(تو-کا-رنګ)حاصل مصدر- وګورئ توکارل-

توکارنه:(تو-کا-رَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ توکارل-

توکارونکے:(تو-کا-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع توکارونکي- مؤنث توکارونکې- وګورئ توکارل-

توکاني:(تو-کا-ني)اسم- جمع- مؤنث- د خلې لاړې- په خلهٔ کښې راجمع کېدونکے څک- توکانې-

توکانې:(تو-کا-نې)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)د لاړو توکلو لوښے- توکداني- (۲)د ماشومانو دوه لوبه- (افغانستان)-

توکانے:(تو-کا-نے)اسم- (۱)مراشکے- مراچکے- بلغم- (۲)لاړې-

توکرکے:(تو-کر-کے)اسم- واحد- مذکر- تکرکے- توکرے- کودرے- ټيکرے- کندوے- د خاورين لوښي ټوټه- جمع توکرکي-

توکره:(تو-کَ-ره)اسم- واحد- مؤنث- کودره- د کاغذ يا جامې ټوټه- ټکړه-

توکرے:(تو-کَ-رے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ توکرکے-

توکړې:(تو-کَ-ړې)اسم- جمع- مؤنث- توکاني- لاړې-

توکل ۱:(تو-کل)اسم- (۱)باور- يقين- په خدایٔ تکيه- (۲)اراده- نيت- (م- عربي)-

توکل ۲:(تو-کل)اسم- هغه کمزورے او ويرېدونکے سپے چې د نورو سپيو نه خار ته نږدې ولاړ وي-

توکل ۳:(تو-کل)مصدر متعدي- د خلې نه لاړې ابهٔ، روټۍ يا څهٔ بد خونده خير غرځول-

توکله:(تو-کَ-له)اسم- واحد- مؤنث- توکلی- بغېر لهٔ توبرې غشے- توکه-

توکله:(تو-کَ-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)توکه- توقه- شتی- (۲)د کپوړې کل- د کبين د کک روپے- د بومبکې هغه برخه چې کمين پکښې پراته وي- جمع توکلې-

توکله:(تو-کَ-له)اسم- کتخه- تخلې- کوچخول- هغه ټوپۍ چې غوږونه پکښې پټ وي-

توکلي:(تو-کَ-لي)اسم صفت- واحد- مذکر مؤنث- توکل کونکے- پاړه- کار ته رواندې کېدونکے- جمع توکليان-

توکلے:(تو-کَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع توکلي- مؤنث توکلې- وګورئ توکل-

توکم:(تو-کم)اسم- تخم- توخمے- نژاد- نسل- ټبر- پښ- لر کړ-

توکن:(تو-کن)حاصل مصدر- وګورئ توکل ۳-

توکنه:(تو-کَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ توکل ۳-

ئ" (ئي-رل)، ى"(مې-رو-ول)، ې"(ېپا-لې)، ے"(مين-ديې) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www pukhto net

توکنی:(تو-کَ-نی)اسم صفت- واحد- مذکر- بیهوده- خُشے- فضول- بې معنې- چټی- عبث- جمع توکنیان-
توکنې:(تو-کَ-نې)اسم- جمع- مؤنث- وګورئ توکانې-
توکول:(تو-کَ-ول)مصدر متعدی- لهٔ حلې څهٔ څیز غرځول-
توکوم:(تو-کوم)اسم- توکم- ماٶ- مرفه- نژاد- نسل-
توکونکے:(تو-کَون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع توکونکی- مؤنث توکونکې- وګورئ توکل ۲-
توکوې:(تو-کهٔ-وو-نې)اسم- کلچه- ټیکله- څکی- ټیکلی- هغه روټۍ چې د روټۍ پخولو نه پس د پاتې اوړو نه پخولے شی-
توکه:(تو-کهٔ)اسم- واحد- مؤنث- توفه- شتې- د جوارو وژبدلے وړے- جمع توکې-
توکه:(تو-کهٔ)اسم- واحد- مؤنث- توکلی خبره- پهٔ توکل خبره کونه-
توکه:(تو-کهٔ)اسم- توکه- توکے- تول- پړل- قسم-
توکه:(تُو-کهٔ)اسم- واحد- مؤنث- ګټه- نفع- فائده-
توکی توکی:(تو-کی-تو-کی)صفت- (۱)رنګ پهٔ رنګ- قسم قسم- (۲)چن شوی- منتخب- (۳)برخې برخې- حصې حصې-
توکېدل:(تُو-کې-دل)مصدر لازم- د لاړو پهٔ شان لهٔ خُلې غرځېدل-
توکېدن:(تُو-کې-دن)حاصل مصدر- وګورئ توکېدل-
توکېدنګ:(تُو-کې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ توکېدل-
توکېدنه:(تُو-کې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ توکېدل-
توکېدونکے:(تُو-کې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ توکېدل-
توکېدهٔ:(تُو-کې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ توکېدل-
توکی:(تو-کی)اسم- واحد جمع- مؤنث- کړکی- تاکی-
توکے:(تو-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)جزو- عنصر- (۲)قسم- پول- (۳)برخه- حصه- ونډه- جمع توکی-
توک:(توک)اسم- واحد- مذکر- وګورئ توک ۲-
توکاټ:(تو-کاټ)اسم- واحد- مذکر- شمسیرک-
توګه:(تو-ګه)اسم- واحد- مذکر- (۱)توکه- توکے- قسم- نړیعه- (۲)خبره- څیز- قاعده- اصول- طرز-
توګے:(تو-ګے)اسم- واحد- مذکر- کرچانے- خرګے- کوټے- کورروکے- کرچے- کوټرکی- د حری بچے- جمع توګی-
تول:(ت-ول)مصدر- ورل- یړل-
تول:(تول)اسم- واحد- مذکر- (۱)وزن- (۲)تلنه- (۳)دروندوالے- جمع تولونه-
تول:(تول)صفت- ستل- سارے- مخې-
تول:(تُول)اسم- وګورئ طول-
تول:(تُول)اسم- (۱)فصل- کروندہ- کرنه- (۲)رغېدنه- د مرغیو پهٔ شان پهٔ پښو تلنه- (۳)د کر زمکه-

تولا:(ت-وَل-لا)اسم- مینه- محبت- اُمید-
تولان:(تو-لان)اسم- تول- تولاند- د مرغیو پهٔ شاه پهٔ پښو پهٔ مزه مزه تلنه- تولندے- خرام-
تولاند:(تو-لاند)اسم- وګورئ تولان-
تولانی:(تو-لا-نې)اسم- واحد- مؤنث- توښک- تورشک- جمع تولایانې-
تولبک:(تول-بک)اسم- جمامه- وسو- جمیا- تره تیرک- د ُبراسیکا ُد نـوع ُد ساهس ُد خاندان یو بوټے او د هغې دانې-
تولنک:(تول-نک)اسم- واحد- مذکر- برستن- برستنه- شیرک- ورستې- نالی- بیالی- کنجې- ټلتک- کنځې- جمع تولنکونه-
تول تول:(تول-تول)صفت- ټکړې ټکړې- ټوټې ټوټې- ګېرې ګېرې-
تولد:(ت-ول-لد)اسم- واحد- مذکر- زمږېدنه- پېدا کېدنه- جمع تولدونه- (م- عربی)-
تولعت:(تو-لع-نت)کلمهٔ نفرت- تولانت- تولالت- د سپکاری کلمه-
تولک:(تو-لک)اسم- واحد- مذکر- (۱)تریوکے- تاروکے- ترووکے- یو قسم تریو خوند لرونکے ساګ- (۲)هغه مارغهٔ چې کرېزې کړے وی- جمع تولکونه- (پهٔ دویمه معنی کښې غالباً ُد ترکی ټکے دے)-
تولکه:(تو-ل-که)اسم- واحد- مؤنث- د زیړو شپېلی- توله- ُد درزې پونکے یا پونکے- جمع تولکې-
تولګر:(تول-ګر)اسم- واحد- مذکر- تولی- تول کونکے- وزن کونکے- مولګرندے- هغه څوک چې تول کوی- جمع تولګران-
تولګرندے:(تول-ګرن-دے)اسم- وګورئ تولګر- جمع تولګرندی-
تولند:(تُو-لند)اسم صفت- خوړند- پهٔ خوږې- رغړېدو ته تیار-
تولندے:(تو-لن-دے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ تولان-
تولول:(تو-ل-ول)مصدر متعدی- تلل- تول کول- وزن کول-
تولول:(تُو-ل-ول)مصدر متعدی- (۱)څرخ ورکول- (۲)رغړول- تاوول- تاوول- ټیلول- ګړی کول- کولول- ویدل- ګړوبدل-
تولون:(تو-ل-ون)حاصل مصدر- وګورئ تولول ۱-
تولون:(تو-ل-ون)حاصل مصدر- وګورئ تولول ۲-
تولونکے:(تو-ل-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تولونکی- مؤنث تولونکې- وګورئ تولول ۱-
تولونکے:(تو-ل-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تولونکی- مؤنث تولونکې- وګورئ تولول ۲-
تولونګ:(تو-ل-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تولول ۱-
تولونګ:(تُو-ل-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تولول ۲-
تولونه:(تو-ل-ونه)حاصل مصدر- وګورئ تولول ۱-
تولونه:(تُو-ل-ونه)حاصل مصدر- وګورئ تولول ۲-
توله:(تو-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ تُولکه- جمع تولې-
توله:(تو-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کوترے- (۲)د دولسو ماشو وزن-

(۳)يو قسم ښكاري مرغه- (۴)اشپېلۍ- (۵)مولونه- (۶)تپولنوب- اپهٔ دوېمه معنٰی كښې هندی سره شريكه-

توله:(تو-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)درنه- تولن- برابرېـ- (۲)د كاڼی هغه لوګـے چې پهٔ هغهٔ دَ تول ګاڼی توله برابرېږی-

تولی:(تو-لی)اسم- واحد- مذكر- تول كوونكـے- جمع توليان-

توليا:(تو-لی-يا)اسم- واحد- مؤنث- توليه- (م- تركی)-

توليت:(تو-لی-يَت)اسم- دَ جائيداد متولی جوړونه- دَ نابالغ دَ جائيداد ولی جوړونه- حاكم جوړونه-

توليد:(تو-لِيد)اسم- (۱)زېږونه- (۲)پيدا كونه- (م- عربی)-

توليدول:(تو-لی-د-ول)مصدر متعدی- پيدا كول- منځ ته راوړل- (م- عربی)- (خاص طور سره دَ مصنوعاتو پيدا كول)-

توليدونكـے:(تو-لی-د-وون-كـے)اسم فاعل- واحد- مذكر- جمع توليدونكی- مؤنث توليدونكې- وګورئ توليدول- (افغانستان)-

توليدی:(تو-لی-دی)صفت متعلق فعل- دَ توليد سره متعلق-

توليدېدل:(تو-لی-دې-دل)مصدر لازم- پيدا كېدل- (افغانستان)- (م- عربی)-

توليه:(تو-لی-يه)اسم- واحد- مؤنث- توليا- هغه بوردواره كپړه چې دَ مخ لاس او بدن دَ وچولو دَ پاره پكاروَلے شی- جمع تولیې- (م- تركی)-

تولېدل:(تو-لې-دل)مصدر لازم- (۱)خرڅېدل- (۲)غوړېدل- نغرېدل- كولېدل- ګروېدل- (۳)تولان كول- (۴)ووېدل-

تولېدل:(تو-لې-دل)مصدر لازم- وزن كېدل- تول كېدل- تلـے كېدل-

تولېدن:(تو-لې-دن)حاصل مصدر- وګورئ تولېدل ۱-

تولېدن:(تو-لې-دن)حاصل مصدر- وګورئ تولېدل ۲-

تولېدنه:(تو-لې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ تولېدل ۱-

تولېدنه:(تو-لې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ تولېدل ۲-

تولی:(تو-لی)اسم- واحد جمع- مؤنث- كڅوړه- دَ ورېښمو يا زرو تللو وړه تله- (۲)دَ شولو دَ بوټی بېج-

تولی:(تو-لی)اسم- واحد جمع- مؤنث- پياله- پيالی- (افغانستان)-

تولی:(تو-لی)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)لوګی خانه- دودكښ- دَ تونخانې هغه نل چې لوګـے پرې تېرېږی- (۲)پوچ كالتوس- (۳)يو قسم راښهٔ-

تولـے:(تو-لـے)اسم- واحد- مذكر- (۱)كركی- دروجه- درمه- دروے- دركـے- نـيـے- (۲)خوانـی- قد و قـامـت- (۳)دَ توپك شپېلی- جمع تولی- (افغانستان)-

توم:(توم)اسم- واحد- مذكر- تومك- دَ تنكې غلې دَ اُبو لوښـے-

تومار:(تو-مار)اسم- واحد- مذكر- (۱)خارست- (۲)تخور- تخمار- (۳)اوږدی او عالمانه جملې ليكنه- جمع تومارونه-

تومارچه:(تو-مار-چه)اسم- واحد- مؤنث- تماچه- تومانچه- تمانچه-

توماری:(تو-ما-ری)متعلق فعل- دَ تومار سره متعلق- وګورئ تومار-

توماشه:(تو-ما-شه)اسم- واحد- مؤنث- تماشه- ننداره- (افغانستان)-

تومافه:(تو-ما-فه)اسم- واحد- مؤنث- خولۍ- تماغه- دَ ښكاري مارغانو سترګو دَ ښدولو دَ پاره جوړه شوی ټوپی- (م- تركی)-

تومان:(تو-مان)اسم- تومن- شل- دَ شلو روپيو سكه-

تومان:(تو-مان)اسم- واحد- مذكر- ټولـے- ګروه- ګند- عزيزولی- اولس- جمع تومانونه-

تومانچه:(تو-مان-چه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ تماچه-

توماندار:(تو-مان-دار)اسم- (۱)دولت مند سړے- (۲)دَ بلوچو دَ قبيلې دَ مشر لقب-

تومبار:(توم-بار)اسم- لمسونه- پاروونه-

تومبسكه:(توم-بس-كه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)لوړه زمكه- (۲)ختې- للمه- جمع تومبسكې-

تومبل:(توم-بل)مصدر متعدی- (۱)تومبل- (۲)ملوچ پهٔ وانپت يا پوغ وهل- تومبيا كول- ټېنګ كول- ټنډت كول-

تومبن:(توم-بن)حاصل مصدر- وګورئ تومبل-

تومبنه:(توم-ب-نه)حاصل مصدر- وګورئ تومبل-

تومبوركـے:(توم-بوز-كـے)اسم- خله واښـے- كټ پوزے- كټ پوز- جمع تومبوركی-

تومبونكـے:(توم-بون-كـے)اسم فاعل- واحد- مذكر- وګورئ تومبل-

تومبونكـے:(توم-ب-وون-كـے)اسم فاعل- واحد- مذكر- جمع تومبونكی- مؤنث تومبونكې- وګورئ تومبل-

تومبيا:(توم-بيا)اسم صفت- پهٔ وانپت وهلے شوے- پهٔ ټېنګ صفا شوی ملوچ-

تومبی:(توم-بی)اسم- واحد جمع- مؤنث- لركوانی- اخور- پاخور- اوخېړ-

تومبـے:(توم-بـے)اسم- واحد- مذكر- نمبو- جمع تومبی-

تومت:(تو-مت)اسم- واحد- مذكر- تهمت- تور- بدګومانی- بدناموونه- (م- عربی)-

تومری:(توم-ری)اسم- واحد جمع- مؤنث- كچری- پوچی- دَ خربوزو يا ختكو پهٔ باغ كښې پاتې شوی كچری-

تومله:(توم-لـ-نه)اسم- واحد- مؤنث- زيلان- زيلانځ- رحم- زېږنده-

تومله:(توم-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)تومنه- تېمنه- مايه- خميره- دَ مستو جوړولو مانع- (۲)دَ منی قطره- (۳)بنياد- جرړه- اصل-

تومن:(تو-من)اسم- (۱)تمن- تومن- تومان- ترم- (۲)دَ اشخاړ بوټـے- (۳)تولـے- (۴)دَ كروندی تخم- (۵)كرم شوده- (۶)دَ شلو روپيو برابر سكه- (۷)عزيزولی-

تومنه:(تو-م-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ تومله-

تومن:(تو-من)اسم صفت- تومن- نرم شيره-

تومنی:(تو-م-نی)اسم صفت- نيم ګرم- لږ شان ګرم- تومن- جمع تومنی-

تومه:(تو-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ څهٔ څيز تبل يا مانع- (۲)تومنه-

ئ: (ئي-ول) ي:(ئي-ږه-ول)، ې:(پېښا-لی)، ـيـ:(ئن-ـه-مر) تفصيل دَ پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

(۲)غوړه- مغه خوراک چې باز ته ورکولے شي- جمع تومې-

تومېدل:(تو-مې-دل)مصدرِ لازم- (۱)اکړېدل- خاربتېدل- (۲)مایه کېدل- خمبیره کېدل-

تومېدن:(تو-مې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ تومېدل-

تومېدنګ:(تو-مې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ تومېدل-

تومېدنه:(تو-مې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ تومېدل-

تومېدونکے:(تو-مې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تومېدونکي- مؤنث تومېدونکې- وګورئ تومېدل-

تون:(تُون)اسم- چوبګره- کوېله- کوړی- سالَه- سالګی-

تون:(تُون)لاحقه- دَ ځایَ دَ ځرګندولو لاحقه- (افغانستان)-

تون:(تُون)اسم- واحد- مذکر- تون- دَ سريخ دَ خاندان يوه ونه-

تونالت:(تو-نا-لت)کلمهٔ نفرت- تولعنت- لعنت ملامت-

تونبړی:(تُونب-ړی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- تونبے- مغه کدو چې پاړوګان تری بیم جوړوی- (م- هندی)-

توندخويه:(توند-خو-يه)اسم صفت- مذکر مؤنث- تېز خویَ لرونکے- غصه ناک- تندخويه-

توندوالے:(تونَد-وا-لے)اسم- تېزي- چُستي-

تونده:(تون-ده)اسم- واحد- مؤنث- لونده مرئ- غوړه مرئ-

تونده:(تون-ده)صفت- (۱)دَ وَچې ضد- لونده- زیم- (۲)اسم- دښمني- (افغانستان)-

توندی تېزی:(تون-دی-تې-زی)اسم- تېزي- بیړه- چابک دستي-

تونړه:(تون-ړه)اسم صفت- واحد- مذکر مؤنث- اسوده حال- پهٔ کور پوره- چې مال حال یې برابر وی- چې کهٔ حاجت نهٔ لری-

تونس:(تونَس)اسم- واحد- مذکر- دباؤ- دړکه- جمع تونسونه-

تونک:(تو-نک)اسم صفت- مذکر- غصه ناک- قهرژن- خشکی-

تونګ:(تونګ)اسم صفت- کږوږ- شیندلے- حورووړ- ټس ټس-

تونګ:(تونګ)اسم- وګورئ توم-

تونګ:(تونګ)اسم- واحد- مذکر- د حاورو کوزه- صراحی-

تونګ:(تَ-ونګ)اسم- (۱)پېټاره- د زنانؤ دَ کالیو ساتلو ټوکری- (۲)دَ پوړی ابیور تخته- جمع تونګونه-

تونګ:(تونګ)اسم- واحد- مؤنث- پېغله جینۍ- جمع تونګې-

تونګ:(تونګ)اسم- واحد- مذکر- خزانه- مخزن- ذخیره ګاه- د غلې ګودام- (افغانستان)-

تونګاچه:(تونګ-کا-چه)اسم- واحد- مؤنث- وستل- دونګاچه- د ناستې دپاره جوړ کړے شوے ځای- جمع تونګاچې-

تونګر:(تَ-ونګ-ګر)اسم- توانګر- شتهٔ مند- توان لرونکے- غني- دولتمند- مالدار- موړ- مؤنث تونګره- جمع مؤنث تونګرې- (م- فارسی)-

تونګره:(تونَګ-ګهٔ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- بوده- اخستنه- د چا نه کهٔ بردونه- جمع تونګړی-

تونکه:(تونګ-که)اسم- واحد- مؤنث- تونک- خوانه جینۍ- رسېدلې پېغله- جمع تونکې-

تونکی:(تونګ-کی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)پېټاری- خورجین- تونکے- (۲)کجاوه-

تونکے:(تونګ-کے)اسم- واحد- مذکر- د مېزری ټوکری- لهٔ مېزری یا کیو جوړه صندوقچه یا بسته- جمع تونکی-

تونکے:(تونګ-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)خسلانګې- جیلغ- (۲)ونډنے- دَ مېزری یو بل پسې تړلې پاتې چې د ځتری تړلو دَ پاره پکارولے شي- جمع تونکې-

تون لعنت:(تُون-لع-نت)کلمهٔ نفرت- تونالت- تولعنت- لعنت ملامت-

تونه:(تُونَه)اسم- تومنه- تومله- (افغانستان)-

تونه سیبون:(تُونَه-سي-بون)اسم- د کروندي تخم- وګورئ تومنه-

تونه:(تو-نه)اسم- واحد- مؤنث- تونه- جمع تونې-

تونه:(تو-نه)اسم- واحد- مؤنث- رغونه- غبرګه- مخ- بڼه- قد- قیافه- قواره- شاده- (افغانستان)-

تونه:(تو-نه)اسم- واحد- مؤنث- د عنبسکي لوبه- د پنډوسکي لوبه- جمع تونې-

تونی:(تو-نی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دَ الماری پهٔ شان دَ لرګی مغه صندوق چې وچتې پښې لری او عموماً دَ برستنو ابیور دَ پاره پکارولے شي-

تورل:(تو-رل)مصدرِ متعدی- توږل- تلول- بیول- توی کول-

تورلے:(تو-رلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تورلي- مؤنث تورلې- وګورئ تورل-

تورن:(تو-رن)حاصلِ مصدر- وګورئ تورل-

تورنکے:(تو-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تورنکي- مؤنث تورنکې- وګورئ تورل-

تورنګ:(تو-رنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ تورل-

تورنه:(تو-رنه)حاصلِ مصدر- وګورئ تورل-

توره:(تَ-وه)اسم- واحد- مؤنث- د زمکې برید یا کچه پوله- جمع توری- (افغانستان)-

توه:(تَ-وه)اسم- واحد- مؤنث- خاورین تبخے- تبی- دَ تیکری تبخے- جمع تری-

توه:(تَ-وه)اسم- کورتی- ګاره- د پیو پهٔ لوښی د پیروی لاندې پاتې شوې ورخه- (افغانستان)-

توه:(تَ-وه)اسم- (۱)دَ شاتوت ونه- د نباتاتی نوم دَ پاره وګورئ شاتوت- (۲)خوند- ذائقه- مزه-

توه کی:(تَ-وه-کی)اسم- واحد جمع- مؤنث- تود کانے- توده کنجکه-

www pukhto net

توده تيره- دَ ماشومانو يوه لوبه-

تومر:(تو-مر)اسم- دَ زړکوبي يا د زخم بوټی- نباتاتی نوم يوفوربيا نيرى فوليا EUPHORBIA NERIFOLIA ROXB- (م- هندى)-

توکی:(تو-مو-کی)اسم- واحد- مؤنث- کرمه تيره-

توهم:(ت-وه-هم)اسم- وهم- انديښنه- وسواس- گومان- شک- (م- عربى)-

توهين:(تو-هين)اسم- بي عزتي- سپکاوی- (م- عربى)-

توني:(تو-ني)اسم- واحد- مؤنث- دَ قميص دَ تنو پټي-

تويالکه:(تو-يال-که)اسم- واحد- مؤنث- ښکڅه- ښکڅی- جمع تويالکي- (افغانستان)-

توييع:(ت-وبع)اسم- واحد- مذکر- پټی- نمه واري-

توبع:(ت-وبع)اسم- واحد- مذکر- د شانلو د تقسيم نوم چي د سرمايو او گوکي د تقسيم د پاره استعماليږي-

تويند:(تو-يند)اسم صفت- رژېدونکے- تويېدونکے-

تويول:(تو-يه-ول)مصدر متعدي- (۱)اړول- عبث کول- مانع څيز په زور غرڅول- (۲)رژول- دوړول-

تويولے:(تو-يه-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تويولي- مؤنث تويولې- وگوری تويول-

تويون:(تو-يه-ون)حاصل مصدر- وگوری تويول-

تويونکے:(تو-يه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تويونکي- مؤنث تويونکې- وگوری تويول-

تويونګ:(تو-يه-ونګ)حاصل مصدر- وگوری تويول-

تويونه:(تو-يه-و-نه)حاصل مصدر- وگوری تويول-

تويېدل:(تو-يي-دل)مصدر لازم- (۱)اوړېدل- ضائع کېدل- دَ مانع څيز په زوره گوزارېدل- (۲)رژېدل- دوړېدل-

تويېدن:(تو-يي-دن)حاصل مصدر- وگوری تويېدل-

تويېدنګ:(تو-يي-دنګ)حاصل مصدر- وگوری تويېدل-

تويېدنه:(تو-يي-د-نه)حاصل مصدر- وگوری تويېدل-

تويېدونکے:(تو-يي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تويېدونکي- مؤنث تويېدونکې- وگوری تويېدل-

تويېده:(تو-يي-ده)حاصل مصدر- وگوری تويېدل-

توی:(توی)صفت- (۱)تل شوے- ضائع- (۲)فضول- عبث-

توی:(توی)اسم- وادۀ- وراۀ- دَ ناوی د ورتلو رسم- (افغانستان)-

تويدل:(توي-دل)مصدر لازم- وگوری تويېدل-

توی:(ت-وی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)تبی- کرېڅی- وروکے کرے-

تورے:(تورے)اسم- د گډو رمه- کنډک- (افغانستان)-

تورے:(تورے)اسم- واحد- مذکر- سيلاب- خوړ- نيز- لګړ-

ته:(ته)حرف- (۱)د طرف، صلې، جار، تعلق، ربط او نورو مختلفو معنو د پاره استعماليدونکے حرف- (۲)پورې وړبورې- (۳)په ذمه-

ته ترين:(ته-ت-رين)اسم- تاترين- ډېر ښکته- تحت الثرى-

ته:(ته)اسم ضمير- دَ مفرد مخاطب ضمير-

تهاجم:(ت-ها-جم)اسم- يو بل حمله کونه- يرغل کونه- (م- عربى)-

تهنګ:(ت-نګ)اسم- ځنګک-

تهجد:(ته-هج-جد)اسم- د نيمې شپې نه پس ته عبادت کونه- دَ شپې مونځ- (م- عربى)-

تهجدگزار:(ته-هج-جد-گ-زار)اسم- تهجد کونکے- مؤنث تهجدگزاره- جمع مؤنث تهجدگزارې-

تهجی:(ته-هج-جی)اسم- هجې کونه- د حرفونو مفرد ونيمه- ايځې- ښيځې- (م- عربى)-

تهداب:(ته-داب)اسم- بنياد- (افغانستان)-

تهديد:(ته-ديد)اسم- ډاروونه- ويرونه- (م- عربى)-

تهديدول:(ته-دي-د-ول)مصدر متعدي- ويرول- ډارول- (افغانستان)-

تهديدولے:(ته-دي-د-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تهديدولي- مؤنث تهديدولې- وگوری تهديدول-

تهديدون:(ته-دي-د-ون)حاصل مصدر- وگوری تهديدول-

تهديدونکے:(ته-دي-د-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تهديدونکي- مؤنث تهديدونکې- وگوری تهديدول-

تهديدونګ:(ته-دي-د-ونګ)حاصل مصدر- وگوری تهديدول-

تهديدونه:(ته-دي-د-و-نه)حاصل مصدر- وگوری تهديدول-

تهذيب:(ته-ذيب)اسم- تمدن- ښۀ اخلاق- سربتوب- شائستګی- انسانيت- د يوې معاشرې د ژوند تېرولو مروّجې لارې چارې- مادی ترقی- (م- عربى)-

تهذيبي:(ته-ذي-بي)اسم- د تهذيب سره متعلق-

تهلکه:(ته-ل-که)اسم- هلاکت- بربادی- (م- عربى)-

تهليل:(ته-ليل)اسم- دَ "لا اله الا الله" ورد- کلمۀ طيبه بار بار وئيل- (م- عربى)-

تهمت:(ته-مت)اسم- تومت- تور- بدنامي- الزام- جمع تهمتونه-

تهمتی:(ته-مت-تی)اسم- د تهمت سره متعلق-

تهن:(ت-هن)اسم صفت- ژور- ښکته- غوږ-

تهنه:(ت-هنه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)غار- زمکه کښې دننه وړه ځائې- (۲)ژور ځائې- ژوروالے-

تهور:(ت-هو-ور)اسم- بهادرى- شجاعت- زړۀ ورتيا- (عام طور سره دَ حيوان خصلت)- (م- عربى)-

ته:(ت-هه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)تاهه- تاـ برخه- پرده- پوړ- ردۀ- طبقه- تهـ- (۲)پورې- (۳)ته- دَ کپړې سور- بر- جمع تهې-

تهي:(ت-هي/ت-هي)صفت- تش- خالي- چې ډک نۀ وی- (م- فارسى)-

تهي خو:(ت-هي-خو)اسم صفت- مدحويه-

ټي" (ځي-ول)، ټي"(مي-وه-ول)، ټي"(ويا-لي)، ټي"(ټين-ډي) تفصيل د پاره وگوری تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

تهی دست:(ت-هی-دست:ت-هی-دست:ت-هی-دست)اسم صفت- مذکر- بې وسه- نادار- غریب- تش لاسے-

تهی دماغ:(ت-هی-دماغ:ت-هی-دماغ:ت-هی-دماغ)اسم صفت- مذکر- کم عقل- سوفوف- ناپوه-

تهیه:(ت-هي-یه)اسم- برابرونه- تیارونه- (م- عربي)-

تهېدل:(ت-هي-دل)مصدر لازم- رهېدل- رېږدېدل- دکېدل- (افغانستان)-

تهېدن:(ت-هي-دن)حاصل مصدر- وګورئ تهېدل-

تهېدنګ:(ت-هي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تهېدل-

تهېدنه:(ت-هي-دڼه)حاصل مصدر- وګورئ تهېدل-

تهېدونکے:(ت-هي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تهېدونکي- مؤنث تهېدونکې- وګورئ تهېدل-

تهېدهٔ:(ت-هي-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراری دُ واحد غائب صيغه- وګورئ تهېدل-

تیا:(تیا)لاحقه- د پښتو ژبې یوه لاحقه چې عام طور سره لهٔ صفته اسم جوړوي- لکه د زړهٔ ور نه زړهٔ ورتیا-

تیار:(ت-یار)اسم صفت- (۱)اماده- مستعد- (۲)مکمل- روغ- جوړ- چاڼ- چاغ- (۳)مت بت- تازه- څرب- تکړه- (۴)خواښې ته رسېدلے- پوخ- بالغ- مؤنث تیاره- جمع مؤنث تیارې- (م- عربي، فارسي)-

تیارخور:(ت-یار-خور)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)تیاره خورونکے- (۲)بېکاره-

تیارلګ:(ت-یار-لګ)اسم صفت- واحد- مذکر- تیارلګو- تیارلګے- تیارخور- تیاره خورونکے-

تیارلګو:(ت-یار-ل-ګو)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ تیارلګ-

تیارلګے:(ت-یار-ل-ګے)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ تیارلګ-

تیارول:(ت-یا-ر-ول)مصدر متعدي- (۱)اماده کول- دُ څهٔ کار دُ پاره راضي کول- (۲)درستول- سمول- جوړول- پخول- (۳)مټول- څرڅول- (۴)سمبالول-

تیارون:(ت-یا-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ تیارول-

تیارونکے:(ت-یا-ر-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تیارونکي- مؤنث تیارونکې- وګورئ تیارول-

تیارونګ:(ت-یا-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تیارول-

تیارونه:(ت-یا-ر-وڼه)حاصل مصدر- وګورئ تیارول-

تیاره:(ت-یا-ره)اسم صفت- (۱)د تیار مؤنث- وګورئ تیار- (۲)د حیل ضرورت د پاره یخ شوي روټي یا پخکړے چې د مېلمه د پاره استعمال کړے شي-

تیاره:(تیا-ره)متعلق فعل- تر اوسه- تر اوسه وړاندې-

تیارهٔ:(تیا-رهٔ)اسم- دُ رڼا ضد- تورتیپ- تورتم- تاریکي- جمع تیارې-

تیارهٔ:(تیا-رهٔ)اسم صفت- تور- تاریک-

تیاری:(ت-یا-ری)اسم- واحد- مؤنث- تیاربدنه- بندوبست- اماده کېدنه- جمع تیاری تیاریانې-

تیاربدل:(ت-یا-ری-دل)مصدر لازم- (۱)اماده کېدل- د څهٔ کار د پاره راضي کېدل- (۲)پخېدل- جوړېدل- (۳)غټېدل- څرېبدل- (۴)سمبالېدل-

تیاربدن:(ت-یا-ری-دن)حاصل مصدر- وګورئ تیارېدل-

تیاربدنګ:(ت-یا-ری-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تیارېدل-

تیاربدنه:(ت-یا-ری-دڼه)حاصل مصدر- وګورئ تیارېدل-

تیارېدونکے:(ت-یا-ری-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تیارېدونکي- مؤنث تیارېدونکې- وګورئ تیارېدل-

تیارېدهٔ:(ت-یا-ری-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ تیارېدل-

تیالکه:(تیال-که)اسم- واحد- مؤنث- د خاړرو کټوری- کټوه- جمع تیالکې-

تیپ:(تیپ)اسم- واحد- مذکر- تپولے- د مرغ قطار- جمع تیپونه- (افغانستان)-

تیپ خون:(تیپ-خون)اسم- جمع- مذکر- توپ خین- بېهریانې- مسالې- کاتي- سیلونه- تارچ-

تیت:(تیت)اسم صفت- دانه وانه- کډوډ- پرېشانه- خور وور- تښتلے- کری پېرې- تیت پرک-

تیت پرت:(تیت-پرت)اسم صفت- اخوا دېخوا- تیت و پرک-

تیت پرک:(تیت-پرک)اسم صفت- وګورئ تیت-

تیت پرک:(تیت-پ-رک)اسم صوت- د مرز اواز- پیت پرق-

تیتر:(تی-تر)اسم- واحد- مذکر- د تنخری پهٔ شان دُ طرح یا دُ تور برګ رنګ یو مارغهٔ جمع تیتران سائنسي نوم فرینکولینس FRANCOLINUS-

تیتری:(تیت-ری)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)خومبه- خربوزه- ګوټے- پوڅے- دورنګ- خرهکے- (افغانستان)- (۲)دُ خربوزو اچار- دُ نباتاتي نوم د پاره وګورئ خربوزه-

تی تر:(تی-تر)اسم- واحد- مذکر- هغه کهره چې سینه پوری تړلے شي- سینه بند- (افغانستان)-

تیت و پرک:(تیت-و-پرک)اسم صفت- وګورئ تیت پرک-

تیتول:(تی-ت-ول)مصدر متعدي- تستل- پرېشانه کول- خور وور کول- ګډوډ کول-

تیتون:(تی-ت-ون)حاصل مصدر- وګورئ تیتول-

تیتونګ:(تی-ت-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تیتول-

تیتونه:(تی-ت-وڼه)حاصل مصدر- وګورئ تیتول-

تیتونکے:(تی-ت-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تیتونکي- مؤنث تیتونکې- وګورئ تیتول-

تی تی:(تی-تی)اسم صوت- د چرګو د رابللو اواز- آ آ- کت کت-

تیتی:(تی-تی)اسم- مارغهٔ- ... ماشومانو لهجه-

www pukhto net

تیتېدل:(تی-تې-دل)مصدر لازم- کړوړ کېدل- خور وور کېدل- پرېشانه کېدل- کیرې پیرې کېدل-

تیتېدن:(تی-تې-دن)حاصل مصدر- وګورئ تیتېدل-

تیتېدنګ:(تی-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تیتېدل-

تیتېدنه:(تی-تې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ تیتېدل-

تیتېدونکے:(تی-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تیتېدونکي- مؤنث تیتېدونکې- وګورئ تیتېدل-

تیتېده:(تی-تې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ تیتېدل-

تیټ کنے:(تیټ-کنے)اسم- واحد- مذکر- کباړ- مس- تپوس- جمع تیټ کني-

تیجو:(تی-جو)متعلق فعل- د پښو په نوکو کېدو- په یوه سا چا ته په لوړ اواز پرله پسې وینا کونه-

تیخور:(تی-خور)اسم- (۱)خارښت- (۲)تے رودونکے ماشوم- تیخورے-

تیخوروَل:(تی-خو-ر-وَل)مصدر متعدي- تخنول- خارښتول-

تیخورولے:(تی-خو-ر-وَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تیخورولي- مؤنث تیخورولې- وګورئ تیخورول-

تیخورون:(تی-خو-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ تیخورول-

تیخورونکے:(تی-خو-ر-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تیخورونکي- مؤنث تیخورونکې- وګورئ تیخورول-

تیخورونګ:(تی-خو-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تیخورول-

تیخورونه:(تی-خو-ر-ونه)حاصل مصدر- وګورئ تیخورول-

تیخوری:(تی-خو-ری)اسم صفت- خارښتي-

تیخوری:(تی-خو-ری)اسم- تی روی- د ماشوم د تی پۍ خورنه- د ماشوم د پیو خښلو موده او حالت-

تیخورېدل:(تی-خو-رې-دل)مصدر لازم- خارښتېدل- تخنېدل-

تیخورېدن:(تی-خو-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ تیخورېدل-

تیخورېدنګ:(تی-خو-ری-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ تیخورېدل-

تیخورېدنه:(تی-خو-ری-دنه)حاصل مصدر- وګورئ تیخورېدل-

تیخورېدونکے:(تی-خو-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تیخورېدونکي- مؤنث تیخورېدونکې- وګورئ تیخورېدل-

تیخورېده:(تی-خو-رې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ تیخورېدل-

تیخورے:(تی-خو-رے)اسم صفت- واحد- مذکر- تے رودونکے ماشوم- تیخور- جمع تیخوري-

تیخے:(تی-خے)اسم- مېرخے- سپېرخے- سومبه- جمع تیخي-

تیر:(تیر)اسم- واحد- مذکر- غشے- (شاعري)- جمع تیرونه-

تیر:(تیر)اسم- (۱)شهتیر- ګاډر- وښه- بش- (۲)لاړے- لهړے- بستک- بړوږ- (۳)د یوې په کنده کښې د کلکوالي د پاره لګېدلے لرګے- جمع تیرونه-

تیرانداز:(تیر-ان-داز)اسم صفت- د غشي ویشتونکے- جمع تیراندازان-

تیراندازي:(تیر-ان-دا-زي)اسم- د تیرانداز کېدو حالت یا کار-

تیرملی:(تیر-مَلی)اسم- وزر- نیسګاړو- هغه لرګے چې د کور د چت نه د دېوال په سر بلې باندې راوتلے وي- (افغانستان)-

تیرپرا:(تیر-پَرا)اسم- واحد- مؤنث- تورپرا- تروپره-

تیرپرتاب:(تیر-پر-تاب)اسم- هغه فاصله چې تر کومې یو غشے تللے شي- (د- فارسي)-

تیرپرک:(تیر-پَرک)اسم صفت- مذکر- ګړندے- برندے- بیړندے- جلدي کونکے- تند- تلدي کونکے-

تیررس:(تیر-رس)اسم- واحد جمع- مذکر- مرنے- چې غشے يې خطا نه شي-

تیرک:(تی-رک)اسم- (۱)ځانګه- (۲)د دړد څرېکه-

تیرک:(تی-رک)اسم- واحد- مذکر- د اوسپنې هغه میخ چې د ژرندې د پل په منځ کښې وي-

تیرکش:(تیر-کش)اسم- واحد- مذکر- ترکش- تیرکښ- جمع تیرکشونه-

تیرکښ:(تیر-کښ)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه سوُرے چې هوا پکښې لګي- (۲)د مورچې سوُرے- (۳)د غشیو کېښودو ځاے-

تیرګر:(تیر-ګر)اسم- واحد- مذکر- غشي جوړونکے- جمع تیرګران-

تی روی:(تی-روی)اسم- وګورئ تیخوری-

تیره:(تی-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پوخ- کافل- (۲)هغه د مرغۍ بچے چې بنې يې پوره کړي وي- (۳)د کونتره یو قسم-

تیره غمے:(تیه-ره-غمے)اسم- تورتم- توره تیاره- تیره غمې-

تیری:(تی-ری)اسم- چاره- ترتیب- انتظام- بندوبست- کړن لاره-

تیری:(تیه-ری)اسم- تیارې- د تیاره جمع-

تیری:(تی-ری)اسم- واحد جمع- مؤنث- د تتي (یینډي) لوبه کښې د منډي په وخت یو بل طرف ته پېرونه خوړنه-

تیز:(تیز)اسم- واحد- مذکر- تیز- باد- ترت- تغ-

تیزارتے:(تیز-ار-تے)اسم صفت- مذکر- (۱)تیزن- تیزاوږ- (۲)وارن- ویرېدونکے-

تیزاوږ:(تی-زا-وږ)اسم صفت- مذکر- (۱)تیزاوږ- تیزن- تیزن- (۲)مزدل-

تیزبېر:(تیز-بېر)اسم- د سپېنو یا بېړیو یوه لوبه-

تیزتیزکو:(تیز-تی-ز-کو)اسم- مؤنث- تیزدکو- تیزتیزکي- تیزتیزکي- یو قسم کونګټه چې ماشومان يې رانیسي او په خپل لاس پرې تیزونه اچوي-

تیزتیزکي:(تیز-تی-ز-کي)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ تیزتیزکو-

تیزن:(تی-زن)اسم صفت- مذکر- (۱)تیزن- تیزاوږ- (۲)ویرېدونکے-

تیک:(تیک)اسم- واحد- مذکر- (۱)نسغ- وَچت- (۲)څرګند- بلنګ- جوت- بکاره- (افغانستان)-

www pukhto net

تیکړک:(تیک-ړک)اسم- واحد- مؤنث- توری پیڅې لرونکي یو قسم رانه- ساننسی نوم انتروپانېس کرکو (ANTHROPOIDES KIRGO)- (افغانستان)-

تیکه:(تی-که)اسم- واحد- مؤنث- تړونه- پیڅایې- پوتی- د غوښې وړه ټکړه-

تیکاه:(تی-کاه)اسم- (۱)تیکه- سالنډې- ساه بندی- (۲)ړغم- (افغانستان)-

تیکړے:(تی-کړ-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ریښه- ریبجه- رنجه- (۲)برخه- حصه- ټوټه- جمع تیکړی-

تیکوغے:(تی-کو-غے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم روټی-

تیکه:(تی-که)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ تیکاه-

تیلک:(تی-لک)اسم- واحد- مذکر- یو قسم لباس چې پخوا به زنانو اغستو- (م- هندی)-

تیلنکے:(تی-لنګ-کے)اسم- واحد- مذکر- تیلے- جمع تیلنکی-

تیلنکے:(تی-لنګ-کے)اسم تصغیر- تلنکی- کنډه- وړوکي تله-

تیلنکے:(تی-لنګ-کے)اسم تصغیر- خسنے- تیلے- نرے تیلے- د لرګی یا وابښۀ وچ او نرے شان تیلے-

تیله:(تی-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)زرتار- کلابتون- (۲)د زرتارو لړ- د ورتارو کوړی- د زرتارو کاړی-

تیلی:(تی-لی)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)د هندواني تراژه- (۲)د ربړ نری تسمه- (۳)د کوکړ کانړے-

تیلے:(تی-لے)اسم- واحد- مذکر- هغه نرے چخچے چې په یو سر ئې کوکړ لګېدلي وی او د اور بلولو د پاره پکاروالے شی- اورلګیت- (افغانستان)-

تیلے:(تی-لے)اسم- د کاریز پنډ- (افغانستان)-

تیمار:(تی-مار)اسم- د بیمار خدمت- (م- فارسی)-

تیماردار:(تی-مار-دار) اسم صفت- مذکر- (۱)د بیمار خدمت کونکے- (۲)د بیمار تپوس کونکے- جمع مؤنث تیمارداري- مؤنث تیمارداره-

تیمارداری:(تی-مار-دا-ری)اسم- (۱)د بیمار خدمت- (۲)پښتنه- تپوس-

تیمبوزک:(تیم-بو-زک)اسم- واحد- مذکر- (۱)تربوزک- پوزی- مول- کچېږ- کچېږ- (۲)کوړے- کتموز- پوروند-

تیمبوزے:(تیم-بو-زے)اسم- تربوزک- ورسک تړنه- مول-

تیمچه:(تیم-چه)اسم- واحد- مؤنث- مشکے- هغه کڅوړه چې د تالین د ټکړې نه جوړه وی او په کلیو کښې د ناوې سامان سره ورکولے شی- (افغانستان)-

تیمم:(تے-یم-مم)اسم- واحد- مذکر- تیمون- هغه عمل چې د ناروغی یا د اُبو د نه پیدا کېدو په وخت کښې د اودسه په عوض کیږی-

تیموس:(تی-موس)اسم- د تیموس غده- د سینې نه پورته یوه غده-

تینارہ:(تی-نا-رہ)اسم- واحد- مذکر- اورلمبه- اوراورکے-

تینبوزک:(تین-بو-زک)اسم- تمبوزک- تربوزک-

تینبوزے:(تین-بو-زے)اسم- تیمبوزے- تربوزک-

تینتیغے:(تین-تی-غے)اسم- واحد- مذکر- شینتوبی- چکی- یوه برګه شان مرغی- تبنتیغی-

تین تینه:(تین-تی-نه)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم مرغی- د تینتغی یو قسم- (افغانستان)-

تین تپرک:(تین-تپ-رک)اسم- پمپرک- ستن- پامپرک-

تیندارہ:(تین-دا-رہ)اسم- واحد- مؤنث- ترندارہ- تندیارہ- ککانی- د ترۀ بخه- جمع تینداري-

تیندک:(تین-دک)اسم- (۱)ړغره- تکره- تمبیدنه- (۲)دوکه- (۳)بدری- جمع تیندکونه-

تیندکه:(تین-دَ-که)اسم- واحد- مؤنث- د اُبو داره- فواره- د اُبو پشکه- جمع تیندکې- (افغانستان)-

تیندلک:(تیند-لک)اسم صفت- مذکر- کوړے- هغه ځوک چې په تیندکونو ځی- جمع تیندلکی/تیندلکیان- مؤنث تیندلکه- جمع مؤنث تیندلکې- (افغانستان)-

تیندلکه:(تیند-لَ-که)اسم- واحد- مؤنث- د تیندلک مؤنث- وګورئ تیندلک-

تیندو:(تین-دو)اسم- واحد- مؤنث- هغه ونه چې د پاڼو نه ئې پان جوړولے شی-

تیندوبے:(تین-دو-بے)اسم- واحد- مذکر- فواره- جمع تیندوبی- (افغانستان)-

تیندوړے:(تین-دو-ړے)اسم- واحد- مذکر- تیندوڼے- تیندوړے- د پوزې پېزوانک- د پوزې کړېندونکے- جمع تیندوړی-

تیندوړے:(تین-دو-ړے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ تیندوړے-

تیندوڼے:(تین-دو-ڼے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ تیندوړے-

تیندوے:(تین-دو-وے)اسم- واحد- مذکر- کړېندوکے مهوکے- کړېندوکے- کړېدوکے- عضروف- جمع تیندوی-

تیندیارہ:(تیند-یا-رہ)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ تیندارہ- جمع تیندیارې-

تینکے:(تینک-کے)اسم- واحد- مذکر- د دېګ کفګیر- کوګیر- د دېګ ځمڅی- جمع تینکی-

تینکړسه:(تینک-ړ-سه)اسم- واحد- مؤنث- تینګړی- د ام مهوکے-

تینکړی:(تینګ-ګ-ړی)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)ترینګړی- تینکلی- جتکی- کوترک- تینګنی- (۲)اکته پیش-

تینکړے:(تینک-ړے)اسم- واحد- مذکر- انګڼ- غولے- انګړ- سرائ- جمع تینکړی-

تینکلی:(تینګ-ګ-لی)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ تینګړی-

تینکنی:(تینګ-ګ-نی)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ تینګړی-

تینکه:(تینګ-که)اسم- واحد- مؤنث- میرګاټی- واړۀ واړۀ کانی چې ماشومان پری لوبې کوی-

تینکی:(تینک-کی)اسم- واحد جمع- مؤنث- په یوه سا اېۀ ګښنه-

تینکار:(تین-کار)اسم صوت- د کولو اواز- د تینو د ریټولو په وخت کښې

www.pukhto.net

پېدا کېدونکے اواز- تبکار-

تیور:(تی-ور)اسم- (۱)تی لرونکې- (۲)غټ تی لرونکې- (افغانستان)-

تیول:(تی-ول)اسم- اقطاع- جاګیر- سېرې-

تیه:(تـ-یه)اسم صفت- دَ بیبیو یا نورو لوبو دَ پاره دوباره کېدونکے غږ-

تیياشے:(تی-یا-شے)اسم- واحد- مذکر- سسپار-

تیي:(تـه-يي)اسم- واحد- مؤنث- دانې-

تیبون:(تې-بون)اسم- واحد- مذکر- (۱)وګورئ تیمم- (۲)عزم کوبه- قصد کوبه- (افغانستان)-

تېپهچه:(تېپ-چه)اسم- واحد- مؤنث- تپهچه- دَ مرزو نیولو د پاره استعمالېدونکې هغه آله چې پکښې د لرګی د پاسه ربړ یا څرمن داسې لګېدلې وی چې پهٔ هغې دَ ګټو زملو پهٔ نتیجه کښې دَ مرز پهٔ شان اواز راوځی-

تېخ:(تېخ)اسم- سورلی- سوربدنه-

تېخل:(تې-خل)مصدر متعدی- سورېدل- دَ سورلی پهٔ شا کښېناستل- دَ اصیل ګاروی په شا یا ټانګه، موټر لاری کښې کښېناستل-

تېخلے:(تې-خهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تېخلی- مؤنث تېخلې- وګورئ تېخل-

تېخن:(تې-خن)حاصل مصدر- وګورئ تېخل-

تېخنګ:(تې-خنګ)حاصل مصدر- وګورئ تېخل-

تېخنه:(تې-خهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ تېخل-

تېخونکے:(تې-خون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تېخونکی- مؤنث تېخونکې- وګورئ تېخل-

تېښل:(تې-ښل)مصدر متعدی- برمه کول- پهٔ برمه سورے کول-

تېښلے:(تې-ښهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تېښلی- مؤنث تېښلې- وګورئ تېښل-

تېښن:(تې-ښن)حاصل مصدر- وګورئ تېښل-

تېښنګ:(تې-ښنګ)حاصل مصدر- وګورئ تېښل-

تېښنه:(تې-ښهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ تېښل-

تېښونکے:(تې-ښون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تېښونکی- مؤنث تېښونکې- وګورئ تېښل-

تېښی:(تې-ښی)اسم- واحد جمع- مؤنث- برمه- دَ سوری کولو آله-

تېر:(تېر)اسم- واحد- مذکر- دوکه- فریب- چل- غلطی- جمع تېرونه-

تېر:(تېر)اسم صفت- وړاندې- مخکښې- پخوانے- تېر شوے- (۲)امر- (۳)بغیر لهٔ شخوند وهلو لهٔ حلقه بکته شوے-

تېران:(تې-ران)اسم- روا- جائز-

تېرابستل:(تېر-ابس-تل)مصدر متعدی- غلول- دوکه کول- ټګل-

تېرابستلے:(تېر-ابس-تهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تېرابستلی- مؤنث تېرابستلې- وګورئ تېرابستل-

تېرابستن:(تېر-ابس-تن)حاصل مصدر- وګورئ تېرابستل-

تېرابستنګ:(تېر-ابس-تنګ)حاصل مصدر- وګورئ تېرابستل-

تېرابستنه:(تېر-ابس-تهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ تېرابستل-

تېرابسونکے:(تېر-ابس-سون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تېرابسونکی- مؤنث تېرابسونکې- وګورئ تېرابستل-

تېرابستهٔ:(تېر-ابس-تهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ تېرابستل-

تېربوړے:(تېر-بو-ړے)اسم- واحد- مذکر- چارمغز- مټک- جوز- غُز- اغز- عران- (افغانستان)-

تېربوزے:(تېر-بو-زے)اسم- د کنډلو یو خاص قسم- یو قسم ګندون- (افغانستان)-

تېربه:(تېر-به/تې-ر-به)اسم- واحد- مؤنث- مولی- نباتاتی نوم دَ پاره وګورئ مولی-

تېرببر:(تېر-ببر)صفت- (۱)وړاندې وروستو- تېروببر- (۲)ټکی توری- چل ول-

تېرغړے:(تېر-غ-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ مخ داعونه- (۲)دَ غوا مېښې دَ جیلب یوه حصه چې پهٔ مخ پرته وی- جمع تېرغړی-

تېرسو:(تېر-سو)اسم عدد- دری سوه- (متروک)-

تېرسونے:(تېر-سو-نے)اسم- جوته- پس خورده- پاتې شوے خوراک- جمع تېرسونی-

تېرغمال:(تېر-غ-مال)اسم- تېرعمل- تېرغمے- ظلم- زیاتے- (افغانستان)-

تېرعمل:(تېر-ع-مل)اسم- وګورئ تېرغمال-

تېرغمے:(تېر-غ-مے)اسم- وګورئ تېرغمال-

تېرکی:(تېر-کی)اسم- واحد جمع- مؤنث- کنګل- کنګله- (افغانستان)-

تېرکه:(تېر-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ پنایی یا برید دېوال- تجیر- (۲)دَ روستاړی تړلو تسمه- جمع تېرکې- (افغانستان)-

تېرلک:(تېر-لک)اسم- واحد- مذکر- تېرکے- برچکے- بچوکے- پهٔ لټ کښې هغه وړوکے چڅے چې پکښې د روټی ټوکره ایښوے شی- جمع تېرلکونه-

تېرمتے:(تېر-م-تے)اسم- واحد- مذکر- زوړ اس- عمر خوړلے اس- ټټو- یابو- جمع تېرمتی- (افغانستان)-

تېرنه:(تې-ر-نه)اسم- (۱)بخښنه- معافی- عفو- (۲)ظلم- زیاتے- (افغانستان)-

تېرو:(تې-رو)اسم صفت- ظالم- ظلم کونکے- غاصب- (پښه خزانه- افغانستان)-

تېرواتهٔ:(تېر-وا-تهٔ)اسم- تېروتنه- دوکه کېدنه- خطا کېدنه-

تېروببر:(تې-رو-ببر)صفت- وګورئ تېرببر-

تېروتل:(تېر-و-تل)مصدر- دوکه خوړل- خطا کېدل-

تېروتلے:(تېر-و-تهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تېروتلی- مؤنث

www.pukhto.net

تېروتلې- وګورئ تېروتل-

تېروتن:(تېر-و-تَن)حاصلِ مصدر- وګورئ تېرتول-

تېروتنګ (تېر-و-تَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ تېرتول-

تېروتنه (تېر-و-تَنَـ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ تېرتول-

تېروتونکے:(تېر-و-تُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع تېروتونکي- مؤنث تېروتونکې- وګورئ تېرتول-

تېروتے:(تېر-و-تے)اسم صفت- واحد- مذکر- خطا شوے- تېروتلے- دوکه شوے- غلط شوے- جمع تېروتي- مؤنث تېروتې-

تېرورے:(تېر-و-رے)اسم- واحد- مذکر- هغه سامان یا بار چې د کوچ کولو نه وراندې بل پړاؤ ته لېږلے شي- جمع تېرورې-

تېرول:(تې-ر-ول)مصدرِ متعدي- (۱)زغمل- پېڅل- برداشت کول- (۲)خړول- (۳)د نر حيوان په ماده ختل- (۴)وخت اړول- (۵)تېرۀ کول- (۶)معبر لۀ شخوندہ لۀ حلقه ښکته کول-

تېرون:(تې-ر-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ تېرول-

تېرون:(تې-رون)اسم- (۱)ګودار- وار- (۲)ظلم- زياتے-

تېرونګ:(تې-ر-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ تېرول-

تېرونه:(تې-ر-ونَـنه)حاصلِ مصدر- وګورئ تېرول-

تېرونے:(تې-رونے)اسم- واحد- مذکر- ملګرے- اشنا- زړۀ ته نژدې- محبوب- جمع تېروني- مؤنث تېرونې-

تېره بله:(تې-ره-بله)اسم- واحد- مؤنث- دوکه- چلبازي- غير يقيني صورتِ حال-

تېرۀ توب:(تې-رۀ-توب)اسم- (۱)تېرۀ والے- تېزي- چستي- چالاکي- (۲)هوښياري- پوهه- (۳)تکړه توب- بلتوري-

تېرۀ والے:(تې-رۀ-والے)اسم- وګورئ تېرۀ توب-

تېرېدل:(تې-رې-دل)مصدرِ لازم- (۱)تللل- خوارېدل- (۲)قربانېدل- ځارېدل- (۳)د ماده حيوان د وار په وخت تاؤ سرېدل- (۴)زغملے کېدل- (۵)اوړېدل- (۶)بڅير لۀ شخوندہ لۀ حلقه ښکته کېدل-

تېرېدن:(تې-رې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ تېرېدل-

تېرېدنګ:(تې-رې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ تېرېدل-

تېرېدنه:(تې-رې-دَنَـنه)حاصلِ مصدر- وګورئ تېرېدل-

تېرېدونکے:(تې-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تېرېدونکي- مؤنث تېرېدونکې- وګورئ تېرېدل-

تېرېدونے:(تې-رې-دُونے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع تېرېدوني- مؤنث تېرېدونې- وګورئ تېرېدل-

تېرېدۀ:(تې-رې-دۀ)حاصلِ مصدر او د ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ تېرېدل-

تېرېستل:(تې-رېس-تل)مصدرِ متعدي- وګورئ تېرايستل-

تېرې:(تې-رې)اسم- واحد/جمع- مذکر- دَ پښتو دَ لوبې په دوران کښې په مده کښې يو حوا بل خوا تاؤېدنه-

تېز:(تېز)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- (۱)تند- چُست- چابک- چاخ- چالاک- (۲)هوښيار- پوه- (۳)تېره- (م- فارسي)-

تېزاب:(تې-زاب)اسم- واحد جمع- مذکر- يو ترش خوند لرونکے کيمياوي مرکب- يو قسم تېز عرق چې سرے پرې سوځي او دَ شين رنګي لټمسي کاغذ رنګ سور کوي-

تېزتېز:(تېز-تېز)اسم صفت- مذکر- (۱)شفاشف- (۲)تېرۀ تېره- (۳)جلت جلت- چست چست-

تېزرفتار:(تېز-رَفتار)اسم صفت- تېز رفتار لرونکے- تکړه- چټک- چابک- چاخ- ګړندے-ژر ژر تلونکے- (م- فارسي)-

تېزغانه:(تېز-غا-نه)اسم- واحد- مؤنث- د اس د جلت تللو يا خغلولو دَ پاره جوړ چابک- يوه کروړه- (م- فارسي- تازيانه)-

تېزمزاج:(تېز-مزاج)اسم صفت- سخت طبيعته- غصه ناک- قهرژن-

تېزندي:(تې-زن-دي)اسم- واحد جمع- مؤنث- تېزندي- زندي- تپوندي- هغه پړے چې دَ چا دَ پانسي کولو دَ پاره چا ته ور په غاړه کولے شي- پانسي-

تېزوالے:(تېز-والے)اسم- (۱)تېزي- تندي- تېزي اختيارونه- (۲)غصه کونه- (۳)تېرۀ والے-

تېزول:(تې-زول)مصدرِ متعدي- (۱)جلتول- ژر ژر روانول- په منډه کول- تندول- په تېره (دوره) کول- (۲)تېرۀ پلکي لرونکې دَ اسپنې يا بل څۀ څيز نه جوړه وسله يا آله په برجو وغېره تېرۀ کول-

تېزون:(تې-زون)حاصلِ مصدر- وګورئ تېزول-

تېزونکے:(تې-ز-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تېزونکي- مؤنث تېزونکې- وګورئ تېزول-

تېزونګ:(تې-ز-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ تېزول-

تېزونه:(تې-ز-ونَـنه)حاصلِ مصدر- وګورئ تېزول-

تېزه:(تې-زه)اسم صفت- تېزکے- هغه سبق چې په ټکو نه بلکې په خوېه بنه ونيلے کېږي- په رواني سره سبق ويئه- (افغانستان)-

تېزي:(تې-زي)اسم- (۱)جلدي- جلتي- (۲)غصه- (۳)تېرۀ والے-

تېزېدل:(تې-زې-دل)مصدرِ لازم- (۱)جلتېدل- ژر ژر روانېدل- په منډه کېدل- (۲)دَ اسپنې يا بل دهات نه دَ جوړې وسلې يا آلې دَ پلکې په برجو وغېره تېزېدل-

تېزېدن:(تې-زې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ تېزېدل-

تېزېدنګ:(تې-زې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ تېزېدل-

تېزېدنه:(تې-زې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ تېزېدل-

تېزېدونکے:(تې-زې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تېزېدونکي- مؤنث تېزېدونکې- وګورئ تېزېدل-

تېزېدۀ:(تې-زې-دۀ)حاصلِ مصدر او د ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه-

www pukhto net

وګورئ: تېزېدل-

تپسه:(تي-سه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پهٔ خرڅ کښې تنګي- (۲)کښته- (۳)زياتوالے- (۴)تکې- (افغانستان)-

تپش:(تپش)اسم- واحد- مذکر- سپهار- دُ يوې پهٔ کُنده کښې لګېدلې هغه تېره أسپنه چې زمکه پرې کېرلے شي-

تپش خولي:(تپش-خو-لي)اسم- واحد جمع- مؤنث- هغه توپې چې پهٔ سر وُچته ولاړه وي- وُچته خولي- (افغانستان)-

تپشن:(تي-شن)صفت- تپسن- لوې لوئ وېښهٔ لرونکے-

تپشه:(تي-شه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دُ ګلکارۍ هغه آله چې خښتې او کاڼي پرې ماتولے شي- (۲)دُ ترکاڼۍ هغه آله چې لرګي پرې تراولے شي- ترېشخ-

تپښت:(تښت)اسم- تېښته- خفل- منډه- تاخت-

تپښته:(تېښ-ته)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: تښت- جمع تښتې-

تپغ ۱:(تېغ)اسم- واحد- مذکر- تېره څوکه يا څُله لرونکې وسله- (توره چاړهٔ، خنجر چاړهٔ وغيره)-

تپغ ۲:(تېغ)اسم- واحد- مذکر- تېغے- بوټے- تپغه- تيغه- تازه ټوکېدلے بوټے- جمع تيغونه-

تپغ بندي:(تېغ-بن-دي)اسم- واحد- مؤنث- دُ تېغ يا ګولۍ اثر ختمولو دَ پاره ليکلے شوے تعويذ-

تپغ تپغ:(تپغ-تېغ)اسم صوت- تپغ تپغ- تکے تکے- پهٔ خو ماده حيواناتو دَ نر دَ ختلو دَ پاره دَ پارولو اواز-

تپغ راني:(تېغ-را-ني)اسم- جنګ جګړه- توره چلونه- (م- فارسي)-

تپغري:(تېغ-ړي)اسم- واحد جمع- مؤنث- هغه تورته چې شلېدلے سېوړ يا کُهلې ته اچولے شي-

تپغنه:(تي-غ-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)تېغځے- تېبي- (۲)ککوړے- تيکوړے- دُ رېکاتۍ باځې ربکاره- جمع تپغنې-

تپغون:(تي-غون)اسم- واحد- مذکر- (۱)سپين باز- (۲)- صفت:اروڼ- چنکېدونکے- خلقېدونکے-

تپغول:(تېغ-و-ل)مصدر متعدي- تېرول- مال کول-

تپغون:(تېغ-و-ن)حاصل مصدر- وګورئ: تپغول-

تپغونګ:(تېغ-و-نګ)حاصل مصدر- وګورئ: تپغول-

تپغونه:(تېغ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ: تپغول-

تپغونونکے:(تېغ-و-نون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تپغونونکي- مؤنث تپغونونکې- وګورئ: تپغول-

تپغه:(تي-غه)اسم- مؤنث- هغه خښته چې ګلکار ئې پهٔ بيم کښې پهٔ اړخ لګوي-

تپغه:(تي-غه)اسم- واحد- مؤنث- نوغے- وګورئ: تپغ ۲-

تپک:(تپک)صفت- (۱)تپغ- وُچت- (۲)ګرکند- ملنګ- بنګاره- جوت- (۳)دُ ګاروز دُ خودلذتۍ عمل-

تپکول:(تي-که-ول)مصدر- پهٔ کوړو کښېنول لکه شاګرد چې څنګه استاد ته کښېني-

تپکون:(تي-که-ون)حاصل مصدر- وګورئ: تپکول-

تپکونکے:(تي-که-زون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع تپکونکي- مؤنث تپکونکې- وګورئ: تپکول-

تپکونګ:(تي-که-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ: تپکول-

تپکونه:(تي-که-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ: تپکول-

تپکه:(تي-که)اسم صفت- (۱)شکرن- راخوړند- (۲)تېک- پهٔ غرور کښې-

تپکه:(تي-که)اسم- واحد- مونث- تپکے- دُ توري يا چړې بيام- جمع تپکې-

تپکير:(تي-کير)اسم- (۱)پهٔ سر کښې سپوږې او ريچې لټونه- (۲)دُ نغض او کينې لهٔ کبله چا ته پهٔ بدو سترګو کتنه- (۳)تحقيق- څېړنه- لټون- (افغانستان)-

تپکے:(تي-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ: تپکه ۲- جمع تپکي-

تپل:(تپل)اسم- واحد- مذکر- (۱)عور- هغه روغن چې دُ شرشمو يا نورو دانې غيرونو نه حاصلېږي- جمع تپلونه- (ش- هندي)-

تپليکه:(تپل-په-که)اسم- واحد- مؤنث- دُ پښتنو يوه خاص قسم توپۍ- جمع تپليکې-

تپلمک:(تپل-مک)اسم- واحد- مذکر- تونتک- تولتکه- برستن- تالي- نيالۍ- جمع تپلمکونه-

تپلمر:(تي-لمو)اسم- تي تو- تي تروے- هغه کڅوړه چې دُ لنګو ګاروو علاڅو ته اچولے شي- خلاص-

تپله:(تي-له)اسم- واحد- مؤنث- کڅوړه- بوجۍ- کوبۍ- تپلۍ- (م- هندي)-

تپلي:(تي-لي)اسم- واحد- مذکر- دُ شرشمو او کنځلو وغيره نه تيل وستونکے- دُ کوبۍ چلونکے-

تپلتوب:(تي-لي-توب)اسم- دُ تپلي کار- دُ تپلي پېشه-

تپلکے:(تپ-کے)اسم- ميندروړے- دُ پورې پېروانکے-

تپنګ:(تپنګ)اسم- تابوت- شخره- دُ لرګي صندوق چې مړے پکښې ښخولے شي-

تپنوزه:(تپو-زه)اسم- واحد- مؤنث- سمڅ- سپون غاړے- چپوره- ګاره- (افغانستان)-

تپيل:(تي-يل)مصدر- پهٔ تېرو يا عږږيو کښې سره کول-

تپيلے:(تي-يلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع تپيلي- مؤنث تپيلې- وګورئ: تپيل-

تپين:(تي-ين)حاصل مصدر- وګورئ: تپيل-

تپينکے:(تي-ين-کے)اسم- واحد- مذکر- دُ پوزې مهرکے-

تپينګ:(تي-ينګ)حاصل مصدر- وګورئ: تپيل-

تپينه:(تي-يه-نه)حاصل مصدر- وګورئ: تپيل-

تپيبي:(تي-به-بي)اسم- برماتۍ- برمابر- برابوس- اسه وړه او پسورک-

ی (ئي-رل) ، ي(مي-ره-ول) ، ئ(هيا-لي) ، ۍ(تن-دي) تفصيل دَ پاره وګورئ: تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

وغیره۔

تپینے (تې-پیڼ-ے) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ چپې یا داسې مل څیز چې په بو خل وریتې کړے شي۔ یو پور۔ یوه کاښ۔ جمع تپیې۔ (افغانستان)۔

تپیونکے: (تې-یون-کے) اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع تپیونکي۔ مؤنث تپیونکې۔ وګورئ تپیل۔

تپۍ (تې-پۍ) اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ دانۍ۔ (افغانستان)۔

تے رے اسم۔ واحد۔ مذکر۔ را د سحر از ماده څناورو د بدن هغه غړے چې پښ بکسې وی۔ سینه۔ (اد) سری په سینه دزا هغه سپ چې پښ نه لری۔ جمع تی تیونه۔

ټ:(ټې)حرف- واحد- مؤنث- دَ پښتو او هندی دَ الف بې دَ پټې ویشتم حرف چې دَ ابجد لهٔ حسابه يې شمېر څلور سوه دے او چې "ط" ولیکلے شي نو نهٔ (٩) حسابیږی- جمع ټېکانې-

ټاب:(ټابَ)اسم- واحد- مذکر- افسوس- ارمان- ټاپ- خفګان- (کول‌کېدل مصدرونه)-

ټاسی:(ټاسِیٚ)اسم- مؤنث- هغه اوښه چې دوه کاله پس بچے راوړی-

ټاپ:(ټاپَ)اسم- واحد- مذکر- چچکے- ځاله- کهر- چت- دَ ټانګې دَ پاسه د ترپال چت- (م- انګریزی)-

ټاپ:(ټاپَ)اسم- واحد- مذکر- (١)ټاپه- مهر- نښه- نښانه- (٢)وګورئ ټاب- ترټاب- اسویلی- حسرت- ارمان- افسوس-

ټاپ ټیپ:(ټاپَ-ټیپَ)اسم صفت- مذکر- (١)ټپ ټیپه- مانده- کمزورے- بوږاه- زوږ- (٢)دار و مدار- (٢)ټیپ ټاپ- سینګار- پول-

ټاپ دار:(ټاپَ-دارَ)اسم صفت- مذکر- ټاپېدار- ټاپه شوے- ټاپې ټاپې- چاپې- چاپه شوے-

ټاپړی:(ټاپَ-ړي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (١)دونکاچه- ببه- مچان- ببکی- دَ لرګو یوه وَچته دونکاچه یا لوړه ببه شان چې خلق پرې لوښی لرګی یا مکی منګوټی ږدی-

ټاپړی:(ټاپَ-ړي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- کهر- دَ وښو نه جوړه جونګړه- جونګړی- کېږدی- منډوګے- هغه جونګړی چې فصل ترې ساتلے شي- منا- مناګی-

ټاپل:(ټا-پَل)مصدر متعدی- (١)ټاپه لګول- مهر لګول- نښه لګول- ټپل- (٢)ګذاروی خصی کول- ټپی کول- ټکول-

ټاپلے:(ټا-پَه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- (١)پهٔ نښه شوے- ټاپه شوے- (٢)خصی شوے- ټپی شوے- ټکېدلے- جمع ټاپلی- مؤنث ټاپلې-

ټاپن:(ټا-پَن)اسم فاعل/صفت- (١)مهر لګونکے- ټاپه لګونکے- چاپه لګونکے-

ټاپنځاي:(ټا-پَن-ځايٚ)اسم- واحد- مذکر- دَ چاپ ځائ- د ټاپ ځائ- چاپخانه- پریس- جمع ټاپځی- (افغانستان)-

ټاپو:(ټا-پُو)اسم- واحد- مذکر- (١)وچکی- وړه جزیره- د اوبو پهٔ مینځ کښې وچه- دَ خوړ یا سیند پهٔ مینځ کښې هغه وچه غونډی چې اوبهٔ ورختے نهٔ شي- (٢)برج- ماڼی- جمع ټاپوګان/ټاپوان-

ټاپوړه:(ټا-پو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (١)دَ جامو وینځلو تخته- ښاږه- (٢)خرخره- کراره- (٣)ټابوله- ګړیکه- انتوله- ډانګوری- ډاسګوره- ټاپوړی- (۴)هغه لرګے چې دَ ځناورو سوټې پرې راغنډوی- پوړه-

ټاپوړی:(ټا-پو-ړي)اسم- واحد جمع- مؤنث- ډانګوری- ټوکان- د ترخ اسپا- هغه امسا چې پهٔ پښو معذوره خلق پرې ګرځی-

ټاپول:(ټا-پو-ول)مصدر- ټاپل- ټاپه لګول- مهر لګول- چاپه کول- ټپل-

ټاپولګه:(ټا-پُو-لګه)اسم- واحد- مذکر- بال- پندوس- غنوسکه-

ټاپولے:(ټا-پُو-لے)اسم- واحد- مذکر- ډانګوری- ټاپوړی- انتوله- ډانګوره-

ټاپون:(ټا-پو-ون)حاصل مصدر- وګورئ ټاپول-

ټاپونکے:(ټا-پو-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ټاپونکی- مؤنث ټاپونکې- وګورئ ټاپول-

ټاپونګ:(ټا-پو-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ټاپول-

ټاپونه:(ټا-پو-ونه)حاصل مصدر- وګورئ ټاپول-

ټاپوورمه:(ټا-پو-ور-مه)اسم- (١)حریره نما- د ټاپو پهٔ شان- دَ ټاپو غندی- د ټاپو په رنګ- (٢)هغه وَچه رمکه چې درې طرف ته يې اوبهٔ وی- (افغانستان)-

ټاپه:(ټا-په)اسم- واحد- مؤنث- (١)چاپ شوی حکمنامه- (٢)مهر- ځاپ- چاپ- نښه- ټاپ- (٣)داغ- تور- تهمت- رټه- لکه- (۴)دَ چاپ مشین- (٥)پهٔ کپړه یا کاغذ د نښې لګولو مشین-

ټاپه رس:(ټا-په-رس)اسم- واحد- مذکر- تمرپرست- نورپرست- کاپرګل- هغه ګل چې د تخم نه يې عوری ایستلے کېږی- نمبر- دَ نمبر ګل- ګل نمبر-

ټاپی:(ټا-پی)اسم- واحد- مذکر- (١)دوستی- ملګرتیا- اشنائی- یارانه- (٢)موره- رخت- (٣)پټه صلاح مشوره- د پردی خبره- (۴)دَ ناروغتیا هغه سخت وخت چې یا مریض روغ شي یا ومری- (٥)ساتی- پېشګی- بیانه- ټپی-

ټاپی:(ټا-پی)اسم- واحد- مذکر- (١)منزل- فاصله- (٢)دَ قرض نیټه- قسطونه- (٣)باد و باران- حد جکړ- زول او باران-

ټاپی ټاپی:(ټا-پی- ټا-پی)اسم صفت- خاپ خاپ- تکی تکی- داغ داغ- ځانی ځانی- بسی بسی- برګ-

ټاپېدار:(ټا-پې-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- (١)چاپه شوے- پټېدار- (٢)وګورئ ټاپ دار-

ټاپېدل:(ټا-پې-دل)مصدر لازم- چاپ کېدل- مهر کېدل- نښانه کېدل-

ټاپېدن:(ټا-پې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ټاپېدل-

ټاپېدنګ:(ټا-پې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ټاپېدل-

ټاپېدنه:(ټا-پې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ ټاپېدل-

ټاپېدونکے:(ټا-پې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- چاپ کېدونکے- ټاپه کېدونکے- نښانه کېدونکے- جمع ټاپېدونکی- مؤنث ټاپېدونکې- وګورئ ټاپېدل-

ټاپېده:(ټا-پې-ده)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ ټاپېدل-

ټاپی:(ټا-پی)اسم- واحد جمع- مؤنث- (١)دَ غنمو د درمند خاصه نښه- (افغانستان)- (٢)پهٔ توبی د وربشمو یا د تیلی ګُل-

ټاپے:(ټا-پے)اسم- واحد- مذکر- (١)مقام- مقرر ځائ- (٢)صفت/فاعل- ټاپه لګونکے- مهر لګونکے-

ټات:(ټات)اسم- واحد- مذکر- عرور- ویار- اوغم- وګورئ ټاټ-

ی" (ځی-رل)- ي"(مي-ره-ول)- ی"(پیا-لی)- ے"(تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ١

www.pukhto.net

ټاټ:(ټاټ)اسم- واحد- مذکر- فخر- وياړ- غرور- لوئي- کبر- ټات-

ټاټ:(ټاټ)اسم صفت- واحد- مذکر- کوږ- راټاڼ-

ټاټ:(ټاټ)اسم- واحد- مذکر- جمع ټاټونه- وګورئ تراټ-

ټاټ:(ټاټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ امتګونو راغنډېدو مرکز- (۲)راګونه- سرې نمائېش- (۳)لهٔ مجو يا سونډو نه جوړه پوزې يا صف- د سونډو نه جوړه کپړه- موم جامه- ترپال- ټپر- جټې- ټغر- ګلم- پلاس-

ټاټاره:(ټا-ټا-ره)اسم- مؤنث- وګورئ ټاسارې-

ټاټ باټ:(ټاټ-باټ)صفت- شان شوکت- مخرې- ټاټ پاټ- (م- هندي)-

ټاټ پاټ:(ټاټ-پاټ)صفت- وګورئ ټاټ باټ-

ټاټر:(ټا-ټر)اسم- واحد- مذکر- ټټر- خيګر- سينه-

ټاټسي:(ټا-ټـ-سي)اسم- واحد- مؤنث- ټوټه- وشته- پرپرې- شسي- (افغانستان)-

ټاټکه:(ټا-ټـ-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مرخېړے- ټاټوکه- يو بوټے چې ژاوله ترې حاصلولے شي- (۲)وګورئ ارغوچ- (۳)دَ اکوړ په شان دَ خوراک يو قسم مېوه-

ټاټکے:(ټاټ-کے)اسم- واحد- مذکر- تغارے- چاپېړے- ووړکے ټب- هغه کاډرې يا دَ اُسپني غنډ او رغے شان لوښے چې مزدوران پکښې شګې او سيمنټ مسترې ته خټې او جوړوي- جمع ټاټکي-

ټاټوالے:(ټاټ-والے)اسم- (۱)دَ ټاټ سره متعلق- (۲)کوروالے- په يو طرف ځنګرن توب- ګنګړن والے-

ټاټوب:(ټا-ټوب)اسم- (۱)خاموشي- زغم- (۲)ګذران- ګوزاره- (مصدرونه کول نيول)-

ټاټوبه:(ټا-ټو-به)اسم- واحد- مؤنث- دَ استوګې ځاۍ- دَ وسېدلو ځاۍ- جمع ټاټوبې-

ټاټوبے:(ټا-ټو-بے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ټاټوبه- جمع ټاټوبي-

ټاټوبے:(ټا-ټو-بے)اسم صفت- وسېدونکے-

ټاټوسے:(ټا-ټو-سے)اسم- واحد- مذکر- ټاټوسي- دَ مني د بوټو دَ تخم لوښے يا د کرلو کوغاښے- جمع ټاټوس-

ټاټوکه:(ټا-ټو-که)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ټاټکه-

ټاټوکے:(ټا-ټو-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)خرېړے- ټاټکے- (۲)يو قسم واښهٔ چې دَ سهرلي په موسم کښې کيږي-

ټاټوکے:(ټا-ټو-کے)اسم- واحد- مذکر- دَ اکوړ په شان دَ خوراک يوه مېوه چې مېوکے ئې ډېر سخت وي-

ټاټوکے:(ټا-ټو-کے)اسم- واحد- مذکر- ټوکے- جمع ټاټوکي-

ټاټول:(ټا-ټـ-ول)مصدر متعدي- (۱)په سر خېژول- ناز ورکول- (۲)ټاټ ورکول- کړول-

ټاټون:(ټا-ټـ-ون)حاصل مصدر- وګورئ ټاټول-

ټاټونکے:(ټا-ټـ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- (۱)ټاټ ورکونکے- په سر خېژونکے- نياز ورکونکے- (۲)کړونکے- جمع ټاټونکي- مؤنث ټاټونکې- وګورئ ټاټول-

ټاټونګ:(ټا-ټـ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ټاټول-

ټاټونه:(ټا-ټـ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ ټاټول-

ټاټه:(ټا-ټه)اسم صفت- رسا- نيغ- سم- برابر- سمے-

ټاټي:(ټا-ټي)اسم صفت- واحد- مذکر- مېشتي- مغرور- دَ ټاټ خاوند-

ټاټېدل:(ټا-ټې-دل)مصدر لازم- کوږېدل- په يوهٔ طرف راټيټېدل-

ټاټېدن:(ټا-ټې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ټاټېدل-

ټاټېدنګ:(ټا-ټې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ټاټېدل-

ټاټېدنه:(ټا-ټې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ ټاټېدل-

ټاټېدونکے:(ټا-ټې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ټاټېدونکي- مؤنث ټاټېدونکې- وګورئ ټاټېدل-

ټاټي:(ټا-ټي)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)ټټلي- جوټه- (۲)ځانګو- (دَ ماشومانو ژبه)- (۳)پانسي- (کول کېدل مصدرونه)-

ټاخ:(ټاخ)اسم- تاخت- زغل- منډه- زغاښت-

ټاخ:(ټاخ)اسم صوت- ټخ- دَ ټپاخې يا دَ کارتوس دَ خلاصېدو آواز- دَ ږز آواز-

ټارپېډو:(ټار-پې-ډو)اسم- واحد- مذکر- وګورئ تارپېډو- (م- انګريزي)-

ټاره:(ټا-ره)اسم- واحد- مؤنث- کېډه- سږ- جمع ټارې-

ټاري:(ټا-ري)اسم صفت- واحد- مذکر- فضول خبرې کونکے- ټرپېدونکے- ټرټر کونکے-

ټارې:(ټا-رې)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)برج- اټارې- بالاخانه- منګر- (۲)دَ نيټر ښاخ- دَ کېړې ښاخ-

ټاس:(ټاس)اسم- واحد- مذکر- (۱)يو قسم کالے- يو قسم پسول- (۲)لوېه بکرې- پک- (۳)دَ انګورو يو قسم- (۴)بېک- شرط- بچه- قرعه-

ټاس:(ټاس)اسم صوت- دَ لوښي دَ ماتېدو آواز- ټس-

ټاسه:(ټا-سه)اسم- واحد- مذکر- يو قسم ټوکے-

ټاغ:(ټاغ)اسم صفت- وګورئ ټاغ ستړکے-

ټاغړے:(ټاغ-ړے)اسم صفت- لنډے- کونډے- ګوډے-

ټاغ ستړکے:(ټاغ-ستړ-کے)اسم صفت- چې سترګې ئې بوټې راوتې وي- ټاغے-

ټاغي:(ټا-غي)اسم صفت- برندې- بوټې- ټغې- (عام طور سره دَ سترګو دَ صفت په طور استعمالېږي)-

ټاغے:(ټا-غے)اسم صفت- وګورئ ټاغ ستړکے-

ټاق:(ټاق)اسم صوت- ټق- دَ يو کاڼي دَ بل سره دَ جنګېدو آواز- دَ ټوپک ږز- د ککړ ګيز دَ ماتېدو آواز-

ټاقر:(ټا-قر)اسم- واحد- مذکر- عمرخوړلے- زوړ- ضعيف- بوډا- ټاکر- مؤنث ټاقره- جمع مؤنث ټاقرې- جمع ټاقران-

ټاقې:(ټا-قې)اسم- عصه- بد مغنه-

ټاقې:(ټا-قې)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ټېره-

ټاګ:(ټاګ)اسم- (۱)سرحد- حد- پوله- (۲)چونه- تیغ وهنه-

ټاګ:(ټاګ)اسم- واحد- مذکر- یوه ونه او د هغې مېوه-

ټاګ:(ټاګ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)تریو- تروش- (۲)ټاکلی کډ-

ټاګ ټال:(ټاګ-ټال)اسم صفت- (۱)تکنی- ترهور- (۲)اندېښمن- وسواسي-

ټاګ ټوک:(ټاګ-ټوک)اسم- د کور سامان- ټکه ټوکه- ټک ټوک- لوښي لرګي- اسباب-

ټاکر:(ټا-کر)اسم صفت- وګورئ ټاټر- مؤنث ټاکره-

ټاکر:(ټا-کر)اسم- واحد- مذکر- چیندرو- د ماشومانو یوه لوبه چې په لړی ګوړی کولے شي- چېدړی- چمې- چېدری- چتی- جمت دوزخ-

ټاکل:(ټا-کل)مصدر متعدي- (۱)مقررول- په نښه کول- (۲)مریض ته ټکور ورکول-

ټاکلے:(ټا-که-لے)اسم معمول- واحد- مذکر- مقرر شوے- غوره شوے- چون شوے- په نښه شوے- جمع ټاکلي- مؤنث ټاکلې-

ټاکده غرمه:(ټا-کن-ده-غر-مه)اسم- تکده غرمه- تکنه غرمه- سره غرمه-

ټاکنه:(ټا-که-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټاکل-

ټاکو:(ټا-کو)اسم- واحد- مذکر- (۱)د ځناورو یوه بیماري- (۲- صفت) داړی مار- شوکمار- ډاکو-

ټاکو:(ټا-کو)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ ټاټو-

ټاکور:(ټا-کور)اسم- ټکور- په حوړلن د زخم یا دردېدلې ځای کرمونه-

ټاکونکے:(ټا-کون-کے)اسم فاعل- (۱)نښه لګونکے- مقرر کونکے- مقررونکے- په ګټه کونکے- (۲)ټکور کونکے- ټکوروونکے-

ټاکه:(ټا-که)متعلق فعل- ټکه- سمدستي-

ټاکي:(ټا-کي)اسم- د لاسونو پړقونه- چکچکې- تاړې- (مصدرونه وهل کړل)-

ټاکي:(ټا-کي)اسم- واحد- مذکر- (۱)د ماشومانو یو مرض چې په مخ ئ دانې راوخېژي- (۲)داغونه- چاپونه-

ټاکي:(ټا-کي)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)جوړ- پیوند- (۲)د کارتوس اخر ته لګدلې د کتې ټکره- (۳)هغه کېږه چې صفائي پری کولے شي- صافي-

ټاکي:(ټا-کي)اسم- واحد- مؤنث- د سترګو څورے-

ټاکي:(ټا-کي)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)ټېټق- (۲)هغه دانه چې د وېښې نه پکه وي- (۳)پېر موړ انسان یا حیوان- ادړ بدو- (۴)د ابو بانګي- (۵)پیوند- پینه- د چرم پیوند-

ټاکے:(ټا-کے)اسم- واحد- مذکر- تیکه لګونکے- خال وهونکے- جمع ټاکي- (افغانستان)-

ټاکے:(ټا-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)څاڅکے- ټکے- قطره- (۲)پیوند- پیوند- جوړ- (۳)داغ-

ټال:(ټال)اسم- واحد- مذکر- د چونګي محصول- ټیکس- (م- انګریزي)-

ټال:(ټال)اسم- واحد- مذکر- (۱)پینګه- هغه پړے چې بره اچولے شوے وي او ځانګل پری کیږي- (وهل ځوړل مصدرونه)- (۲)تاخیر- ځنډ- (کول مصدر)- (۳)د جولا تار- (۴)د بارسنګ ټیکونه- (۵)د لرګو دوکان- (کول اچول مصدرونه)-

ټال باش:(ټال-باش)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ټال باش-

ټال متال:(ټال-مه-ټال)اسم مرکب- وګورئ ټال متول- (کول مصدر)-

ټال متالول:(ټال-مه-ټا-له-ون)مصدر متعدي- (۱)ایسارول- ځنډول- (۲)اني باني کول- حیلې حوالې کول-

ټال متالونکے:(ټال-مه-ټا-له-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټال متالول-

ټال متالونه:(ټال-مه-ټا-له-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټال متالول-

ټال متالېدل:(ټال-مه-ټا-لې-دل)مصدر لازم- ځوړ په طمع کېدل- ځوړ په امید کېدل-

ټال متالېدنه:(ټال-مه-ټا-لې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټال متالېدل-

ټال متالېدونکے:(ټال-مه-ټا-لې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټال متال-

ټال متالېده:(ټال-مه-ټا-لې-ده)حاصل مصدر- وګورئ ټال متال-

ټال متول:(ټال-م-ټول)اسم (مرکب)- ټېل- ځنډ- بانه- انه بانه- حیله حواله- هغه غر دا غر- یو غر بل غر-

ټالو:(ټا-لو)اسم- په لوړ شي په راځوړنده رسي یا ځانګو کښې کښېناستنه او ټالونه خوړنه-

ټالول:(ټا-له-ول)مصدر متعدي- (۱)ټالول- ځېره وړدول- بهانه کول- جول ورکول- ایسارول- (۲)ځنګول-

ټالولے:(ټا-له-و-لے)اسم معمول- واحد- مذکر- وګورئ ټالول-

ټالون:(ټا-له-ون)حاصل مصدر- وګورئ ټالول-

ټالونکے:(ټا-له-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټالول-

ټالونګ:(ټا-له-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ټالول-

ټالونه:(ټا-له-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټالول-

ټاله:(ټا-له)متعلق فعل- په یو ځای- همغاړه-

ټاله:(ټا-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)یو ځای ځرګومه د غلې په یو ځای انبار کومه- (۲)کوارې-

ټالېدل:(ټا-لې-دل)مصدر لازم- (۱)ځنګېدل- جوتې خوړل- (۲)ایسارېدل- ټالېدل- ځېره وړدېدل-

ټالېدلے:(ټا-لې-د-لے)اسم معمول- واحد- مذکر- (۱)ځنګېدلے- جوتې خوړلے- (۲)ایسار شوے- ټال شوے- وړد شوے-

ټالېدن:(ټا-لې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ټالېدل-

ټالېدنګ:(ټا-لې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ټالېدل-

ټالېدنه:(ټا-لې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټالېدل-

ګ: (ګې-رل)، ئ: (ې-وه-وئ)، ی: (یما-لې)، نې: (نن-د-مر) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

ټالېدونکے:(ټا-لې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټالېدل-

ټالېده:(ټا-لې-ده)حاصل مصدر- د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ ټالېدل-

ټالي:(ټا-لي)اسم- واحد جمع- مؤنث- ډالي- مجره-

ټالي:(ټا-لي)اسم- واحد جمع- مؤنث- شوه- نباتاتي نوم ډلبرګياسيسو -(DALBERGIASISSO)

ټالي:(ټا-لي)اسم- واحد جمع- مؤنث- ځونګه- چکر- پېر- په بال د ځنګولو په وخت يو پېله-

ټامباري:(ټام-باري)اسم- جمع- مؤنث- ژړا انګولا- په چغو چغو ژړا- ټاپاره- ټانپاره- ټانبال-

ټاماسي:(ټام-ماسي)اسم- جمع- عبي عبي داني-

ټامبوړے:(ټام-بو-ړے)اسم- واحد- مذکر- د تيم ډسے-

ټاموسے:(ټام-بو-سے)اسم- واحد- مذکر- د واوري پوښے- د واوري کټ- پوسان- جمع ټامبوسي-

ټامته:(ټام-ته)اسم- واحد- مؤنث- ټانته- بانبه- ټانکر- ټانکاري- د جوارو يا باجري هغه سرخه چې ووے تري مات شوے وي- جمع ټامتې-

ټان:(ټان)اسم صوت- هغه آواز چې د مري ميولو نه پس په زور سره وځي-

ټانباره:(ټان-بارہ)اسم- مؤنث- وګورئ ټاماري- جمع ټامباري-

ټانبال:(ټان-بال)اسم- وګورئ ټامباري-

ټانتس:(ټان-تس)اسم صفت- واحد- مذکر- کم عقل- بې عقله- بوډلے- مايوسه- شوده- ساده- لېد فکرے- مست بانتمه- جمع ټانتس-

ټانتو:(ټان-تو)اسم- واحد- مذکر- هغه سړے چې خپل قرض تري وعيقتے شي يا چې هر څوک تري خپل قرض غواړي- وعواري-

ټانتوسے:(ټان-تو-سے)اسم- واحد- مذکر- کټه ګونبه- عوربيړ- بمبار- ريات خلق- کټه- غالمغال- عوربيڅ- غوربيګ- (مصدر کول)- (افغانستان)-

ټانتور:(ټان-تور)اسم- واحد- مذکر- ټاندور- کېپاکي چې نغري کښې ير د مل د پاسه د اور بسولو د پاره کېښودے شي-

ټانته:(ټان-ته)اسم صفت- واحد- مذکر مؤنث- کمزورے- وچ- نرے-

ټانته:(ټان-ته)اسم- واحد- مؤنث- د جوارو بوټے چې ووے نه تري- ټامته- ټانبه- جمع ټانتې-

ټانجي:(ټان-جي)اسم- واحد جمع- مؤنث- د بېرو او جمع کولو د پاره د اسپي تين يا د سيمټو جوړ ځاي- ټانکي- ټينکي- ټنکي-

ټاند:(ټاند)اسم صفت- خمير- کربدونکے-

ټانده:(ټان-ده)اسم- واحد- مؤنث- آغلے- تانده- (افغانستان)-

ټاندور:(ټان-دور)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ټانتور-

ټانده:(ټان-ده)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ټانته (۲)- جمع ټاندې-

ټاندېر:(ټان-ډېر)اسم- واحد- مذکر- (۱)وير- ماتم- ژړا انګولا- (۲)غم زاري-

ټانک:(ټانک)اسم- واحد- مذکر- (۱)شوبله- ټېپکي- (۲)د تېلو د ذخيرې ځاي- (۳)ټينک- (افغانستان)-

ټانک:(ټا-نک)اسم- واحد- مذکر- مقوي- د طاقت دارو- (م- انګريزي)-

ټانکه:(ټان-که ټانک-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ټک- کنډه- بخي- (۲)پيوند- (مصدرونه- لګول خلاصېدل شلېدل)-

ټانګ:(ټانګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)وار- (۲)وچت غږ- (۳)وخت- موقع- (۴)د بزي يا ګډي د لېښکدو وخت- (۵)يوه غرنيزه ميوه- (۶)موسمي باران- (۷)په سمندر کښې د جهازونو (بېړو) د پاره جوړ شوے ځلے- (۸)پايو- د أبو په مخ کښې وچوبه- وچکي- جزيره- (مصدرونه ختل ورالوتل- خطا کول)- (۹)د چرګو د کښېنولو د پاره جوړ کړے ځاي- جمع ټانګونه- (۱۰)لويه ښانګه- ښاخ- وګورئ ټانګ- (افغانستان)-

ټانکاري:(ټان-کاري)اسم- جمع- مؤنث- وګورئ ټامته-

ټانګاوان:(ټانګ-ګه-وان)اسم صفت- واحد- مذکر- ټانګي وال- ټانګي وال- کوچوان- (افغانستان)-

ټانګوره:(ټانګ-تو-ره)اسم- واحد- مؤنث- داتوره- داتوره- پالتوره- يو زهرژن بوټے- نباتاتي نوم ډتورا ستړا موريئم -(DATURA STRAMONIUM)

ټانکر:(ټان-کر)اسم- جمع- مذکر- پارچوړ- هغه ټانتې چې د څارو د خوراک نه پاتې شوي وي- (۲)ککر- لکړ- کنکړ- لکړي-

ټانګو:(ټان-ګو)اسم- واحد- مذکر- ناک- د بټنګ په رنګ يوه ميوه- يو قسم ونه چې لرګے ئې سخت وي- ډانګي- ټانګي- تنګي- نباتاتي نوم پاي رس کميونس- جمع ټانګوان-

ټانګه:(ټان-ګه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ټانګي-

ټانګه:(ټانګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- تانګه- بګي- په اس يا اسپه راکښلے کېدونے د سورلۍ هغه ګاډے چې دوه پاتې لري-

ټانګي وال:(ټانګ-ګي-وال)اسم صفت- واحد- مذکر- ټانګي وال- د ټانګي چلونکے- کوچوان- جمع ټانګي والان-

ټانګي:(ټان-ګي)اسم- واحد جمع- مؤنث- بانګي- د يو باټس يا لرګي دوارو سرونو ته اچولے شوي تيمان يا نور لوښي چې أبه پکښې راوړے شي-

ټانګي:(ټان-ګي)اسم- واحد جمع- مؤنث- ټنګي- د ناشپاتي په شان يوه سوره عرسره ميوه او د هغې ونه- د نباتاتي نوم د پاره وګورئ ټانګو-

ټانګے:(ټان-ګے)اسم- واحد- مذکر- وچته هواره زمکه- جمع ټانګي-

ټانه:(ټا-نه)اسم- واحد- مؤنث- د ټونه تابع مهمل- کوډه- جادو- تعويذ- منتر- ټونکا-

ټاپه ټونه:(ټا-په-ټو-نه)اسم- واحد- مؤنث- ټونه ټانه- ټونه- ټوټکه- کوډه- جادو- دم تعويذ- جمع ټاپې ټونې-

ټاون:(ټاون ټا-وون)اسم- واحد- مذکر- قصبه- د کلي نه لوئ او د ښاريښي نه وړوکے ځاي- (م- انګريزي)-

www.pukhto.net

ټاون کمېټي:(ټاون-کـمي-ټي)اسم- واحد- مؤنث- په پاکستان کښې د
تصبي انتظاميه چې د اولس چون کړی کونسلران يې چلوي- وړه ښاروالي-
(م- انګريزي)-

ټاون هال:(ټاوَن-هال)اسم- واحد- مذکر- د کمېټۍ هغه هال چې پکښې غونډې
او اجلاسونه کېږي- د ښاروالۍ هال- د ښاروالۍ تالار- (افغانستان)-

ټاه:(ټاه)اسم- واحد- مذکر- تلفظ- تکلم- خبرې کونه- (افغانستان)-

ټاه:(ټاه)اسم صوت- پا- پڼ- (د ماشومانو په ژبه)-

ټائي:(ټا-ئي)اسم- واحد- مؤنث- نکټائي- هغه پټي چې انګريزي لباس سره
په غاړه کښې اچولے شي- جمع ټايانې- (م- انګريزي)-

ټائيپ:(ټا-اپ/ټائپ)اسم- واحد- مذکر- (۱)ټاپه- چاپه- نښه- (۲)
ټائيپ رائيټر- د ټائپ رائيټر په ذريعه شوے ليک- (۳)قسم- شکل صورت-
نمونه- (۴)توکم- کهول- درغوږ- (افغانستان)- (م- انګريزي)-

ټائپ رائيټر:(ټا-اپ-راي-ټر)اسم- واحد- مذکر- هغه مشين چې ټائپ پرې
کولے شي- د ليک مشين- جمع ټائپ رائيټرونه-

ټائپسټ:(ټا-ئپ-پسټ)اسم فاعل- ټائپ کونکے سړے- جمع ټائپسټان-
(م- انګريزي)-

ټائټل:(ټای-ټل)اسم- واحد- مذکر- (۱)سرخط- سرورق- د کتاب ورومبي
پاڼه- (۲)د حکومت له خوا ورکړے شوے خطاب- (م- انګريزي)-

ټائر:(ټا-ار)اسم- واحد- مذکر- ټير- د ربړ نه جوړه د پہئي هغه حصه چې
دننه پکښې ټيوب وي- جمع ټائرونه- (م- انګريزي)-

ټائم:(ټا-يم/ټا-ام/ټايم)اسم- واحد- مذکر- وخت- ټيم- جمع ټائمونه-
(م- انګريزي)-

ټائم پيس:(ټا-يم-پيس)اسم- واحد- مذکر- هغه ګهړۍ چې په ميز يا تاخ
کښې ايښودے شي- جمع ټائم پيسونه- (م- انګريزي)-

ټائم ټيبل:(ټا-يم-ټې-بل)اسم- واحد- مذکر- د وخت د تقسيم نقشه-
(م- انګريزي)-

ټب:(ټب)اسم- واحد- مذکر- د ښانک په شان لوی لوښے چې ډېری اُبه
پکښې جمع کولے شي او د جامو وينځلو د پاره هم استعماليږي- لوی
تغارے چې د لامبلو د پاره استعمالولے شي- طشت- لګن- ښانک- تش- د
اُبو غټ لوښے- (م- انګريزي)-

ټبر:(ټه-بر)اسم- واحد- مذکر- (۱)خاندان- قبيله- خېلخانه- کورنۍ-
(۲)ښځه- کوروداني- ارتينه- بېګم- (م- فارسي تبار)-

ټبردار:(ټه-بر-دار)صفت- مذکر- ټبر لرونکے-

ټبرداري:(ټه-بر-دا-ري)اسم- واحد- مذکر- د ټبردار کېدو حالت- خپلولي-
عزيزولي- کورمه- خاندان- بچه بونګ- کورنۍ- قام قبيله- خپل خپلوان-
رياتې متې-

ټبرګني:(ټه-بر-ګه-ني)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ ټبرداري-

ټبکے:(ټب-کے)اسم- واحد- مذکر- غار- قوتے- پوغله- مايه- کنده- غول-
ټبلۍ- جمع ټبکي-

ټبلۍ:(ټب-لي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ ټبکے-

ټپوټپوک:(ټ-پو-ټ-پوک)اسم- واحد- مذکر- غرنے بلبل- (افغانستان)-

ټپ:(ټپ)صفت- مذکر- (۱)مانده- کمزورے- خوار- پنګر- نرے نروچکے-
(۲)په سترګو ړوند- (۳)بند- (۴)بيخي- بالکل- (۵)کوني- مؤنث ټپه-

ټپ:(ټپ)اسم- واحد- مذکر- (۱)پرهر- زخم- داغ- (۲)پيران- ټپ- (۳)د
کيرړي ونه- (۴)د حکومت د کال ګټه- ماليه، ټېکس وغيره- سرکاري
آمدن- سرکاري مال- (۵)بدل- قصاص-

ټپ:(ټپ)اسم صوت- د کتاب د بندېدو آواز- د لاسونو د جنګېدو آواز- د
وهلو آواز- د بره نه د څه څيز د راپرېوتو آواز- د ټپولو آواز-

ټپا:(ټ-پا)اسم صوت- ټپارے- ټپ ټوپ- کش و کړپ- د روټۍ د پخولو
آواز- د قدمونو ټپهار- د چت نه د اُبو څڅېدو آواز- د لاسونو ټپولو يا
پړقولو آواز-

ټپار:(ټه-پار)اسم صوت- مسلسل آواز- د ټپ ټپ آواز- وګورئ ټپا-

ټپاس:(ټ-پاس)د ټيپ او ټپس تابع مهمل-

ټپال:(ټ-پال)اسم- واحد- مذکر- (۱)پياده ګرځېدنه- رغل- منډه- چاق تلنه-
(۲)بې مقصده ګرځېدنه- (۳)پيغام رسونه- خبر رسونه- (۴)د خرو يا
کچرو د مزدورۍ د پاره د زغلولو کار- (مصدر وهل)- جمع ټپالونه-

ټپالوک:(ټه-پا-لوک)اسم صفت- مذکر- وګورئ ټپالي-

ټپالي:(ټه-پا-لي)اسم صفت- واحد- مذکر- ټپالوک- (۱)ټپال کونکے- پياده
تلونکے- (۲)چرته چلونکے- خرکار- (۳)استاځے- (۴)کوشش کونکے- جمع
ټپاليان-

ټپ پټ:(ټپ-پټ)اسم صفت- واحد جمع- ټټ پټ- فضول- بې معنې- چټې-
حرمې- مزخرف- (افغانستان)-

ټپ ټپ:(ټپ-ټپ)اسم- واحد- مذکر- غصه- قهر- (افغانستان)-

ټپ ټپ:(ټپ-ټپ)اسم صوت- ټپا- د پوړی پخولو آواز- د څه څيز د وهلو
آواز- د مسلسل ټپولو آواز- د باران د ورېدو آواز- د څڅوبي اواز-
وګورئ ټپا-

ټپ ټپانے:(ټپ-ټپا-نے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ټپ ټپانے-

ټپ ټپانے:(ټپ-ټپا-نے)اسم- واحد- مذکر- ټپ ټپانے- ټپ ټپانے- ټپ
ټپانے- د ماشومانو يو قسم لوبه- الاداد- جمع ټپ ټپاني-

ټپټپنے:(ټپ-ټپ-نے)اسم- واحد- مذکر- ټکټکے- پکډګے- موټرسائيکل-

ټپ ټوپ:(ټپ-ټوپ)اسم صفت- بې بيب- خوار خسته- بدحاله-

ټپ ټوپ:(ټپ-ټوپ)اسم صوت- ټپار- ټپارے- د باران د غټو څاڅکو ټپار-

ټپټور:(ټپ-ټور)اسم صفت- واحد- مذکر- کم نظر لرونکے- کم نظرے-
مؤنث ټپټوره- (افغانستان)-

ټپټي کوتره:(ټه-پټ-ټي-کو-ته-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)بازيګره کوتره-
لټ پټۍ کونتره- هغه کونتره چې بازۍ اړوي- (۲)د کونترو يو قسم چې

ټ (ټـې-رل)، ي (هي-ره-ول)، ګ (ګیا-لیې)، ړ (ړن-ړیې) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۹

www.pukhto.net

رنګ ئې سپین وي۔

تپرا (تَپ-را) اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ (۱) ویرېدلے۔ ورېدلے۔ ترهېدلے۔ (۲) احتیاطی۔ خیال ساتونکے۔ (۳) کرکژن۔ نفرت کونکے۔ (۴) کمزورے۔ سست۔ (۵) ویرلړ۔ دړ پړ دړ۔ (افغانستان)۔

تپرول (تَپ-پر-ول) مصدر متعدی۔ بل څوک په تپرېدلو مجبورول۔ په مزه مزه په تلو مجبورول۔ په ورو ورو کرځول۔

تپرون (تَپ-پر-ون) حاصل مصدر۔ وګورئ تپرول۔

تپرونکے (تَپ-پر-ون-کے) اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع تپرونکي۔ مؤنث تپرونکې۔ وګورئ تپرول۔

تپرونګ (تَپ-پر-ونګ) حاصل مصدر۔ وګورئ تپرول۔

تپرونه (تَپ-پر-ونه) حاصل مصدر۔ وګورئ تپرول۔

تپرېدل (تَپ-پرې-دل) مصدر لازم۔ (۱) د روند په شان په ویره ویره قدم اخستل۔ په پام پام تلل۔ په ورو ورو تلل۔ (۲) امیه کول۔ زړه لګول۔ (په چا به ورسره خامخا راځي)۔

تپرېدن (تَپ-پرې-دن) حاصل مصدر۔ وګورئ تپرېدل۔

تپرېدنګ (تَپ-پرې-دنګ) حاصل مصدر۔ وګورئ تپرېدل۔

تپرېدنه (تَپ-پرې-دنه) حاصل مصدر۔ وګورئ تپرېدل۔

تپرېدونکے (تَپ-پرې-دون-کے) اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع تپرېدونکي۔ مؤنث تپرېدونکې۔ وګورئ تپرېدل۔

تپرېده (تَپ-پرې-ده) حاصل مصدر۔ د ماضی استمراري د واحد غائب صیغه۔ وګورئ تپرېدل۔

تپرۍ (تَپ-رۍ) اسم۔ واحد جمع۔ مؤنث۔ نرۍ نیالۍ۔ نرۍ بړستن۔

تپړ (تَ-پړ) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱) کېږه۔ ټاټ۔ موم جامه۔ ترپال۔ (۲) هغه پړے چې د شړلو ګېډۍ پرې تړي۔ (۳) بوسو د کورۍ تړلو رسۍ۔

تپړا (تَپ-ړا) اسم۔ د کلال هغه اله چې د لوښی پرې هواروي۔ جمع تپړاګان۔

تپړسو (تَ-پړ-سو) اسم۔ واحد جمع۔ مذکر۔ یو قسم واښه چې د غنمو فصل کښې راټوکیږي۔

تپس (تَ-پس) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ تپوس۔ یو مردارخور مارغه۔ لم خټه۔ جمع تپسان۔

تپس (تَ-پس) اسم صفت۔ مذکر۔ سست۔ بې کاره۔ ناراست۔ بې خونده۔

تپسارے (تَپ-سا-رے) اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ (۱) تپسورے۔ عاجز۔ متاثره۔ ناتوانه۔ بې وسه۔ ذلیل۔ خوار۔ سپک۔ (۲) سپېره۔ اسکېرلے۔ جمع تپساري۔ (افغانستان)۔

تپسورے (تَپ-سو-رے) اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ (۱) وګورئ تپسارے۔

تپک (تَ-پک) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ سکون۔ قرار۔ راحت۔ جمع تپکونه۔

تپک (تَ-پک) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱) وګورئ تپړا۔ (۲) درز۔ زمکې له راخلاصونه۔ (۳) پټون وهنه۔

تپک (تَ-پک) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ څکالے۔ د ښناورو د ګرمئ نه حور شوے

سپین یا بلاوز۔ جمع تپکان۔ (افغانستان)۔

تپکه (تَ-پکه) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ لوټمار۔ لوټمال۔ پیلی۔ جمع تپکونه۔

تپکۍ (تَپ-کۍ) اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ د تاش په یوه لوبه طرب کښې پاڼه په زور ویشتنه چې ملګرۍ ته دا تاثر ورکوي شي چې دے دې بیا هم دغه رنګ چال کړي۔ جمع تپکۍ تپکیانې۔

تپکے (تَپ-کے) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱) پال۔ پنډوس۔ (۲) د پنډوس یو قسم لوبه۔ (۳۔ صفت) ډېر کمزورے۔ سخت بیمار۔

تپکے (تَ-پ-کے) اسم تصغیر۔ واحد۔ مذکر۔ تپکی۔ پوټکے۔ ورکے موسے۔ جمع تپکي۔

تپکے (تَپ-کے) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱) ورکوټے زخم۔ ووړکے پرهر۔ (۲) غار۔ سوړه۔ (۳) خندق۔ کنده۔ جمع تپکي۔

تپل (تَ-پل) مصدر۔ وګورئ تاپل۔

تپلن (تَپ-لن) اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ تپلے۔ داغي۔ برګ مخے۔ تپن۔ مونی مخے۔ کتی مخے۔ جمع تپلي۔

تپلے (تَ-پلے) اسم صفت۔ وګورئ تپلے یا تپلن۔

تپلے (تَ-پلے) اسم مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ جمع تپلي۔ مؤنث تپلې۔ وګورئ تپل۔

تپن (تَ-پن) اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ (۱) وګورئ تپلن۔ (۲) حاصل مصدر۔ وګورئ تپل۔

تپنا (تَپ-نا) اسم۔ وګورئ تپړا۔

تپنه (تَ-پنه) اسم صفت۔ بې کاره۔ وزګار۔ خشے۔ لیه۔

تپنے (تَ-پنے) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ تپانے۔

تپو (تَ-پو) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ تپو۔

تپیا (تَپ-یا) اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ تنها۔ تپرا۔

تپو (تَ-پو) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ تاپو۔ برج۔ اټارۍ۔ ټاړۍ۔ شیګړۍ۔ جمع تپوګان۔

تپوتپ (تَپو-تپ) اسم صوت۔ وګورئ تپار۔ (افغانستان)۔

تپور (تَ-پور) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د پېره ساتونکیو د ناستې ځاۍ۔ جمع تپورۍ۔

تپوسې (تَ-پو-سې) اسم۔ واحد جمع۔ مؤنث۔ د پوښې غوټې۔ غوزه۔

تپوسې (تَ-پو-سې) اسم۔ واحد جمع۔ مؤنث۔ (۱) یو قسم کونتره۔ (۲) د چرګوریو یو مرض۔

تپوک (تَ-پوک) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱) پوستین۔ وګورئ تپک۔ (۲) تماچه۔ (۳) کلابېره۔ چپلاخه۔ څپېړه۔ جمع تپوکان۔

تپول (تَ-پ-ول) مصدر متعدی۔ (۱) شلباسے ورکول۔ (۲) لمسول۔

تپول (تَ-پ-ول) مصدر متعدی۔ بندول۔ تپ کول۔ (د چوند یا سوري)۔

تپول (تَ-پ-ول) مصدر۔ تپ ورکول۔ ګوزار ورکول۔ وهل۔ ټپ ورکول۔

تپولے (تَ-پو-لے) اسم مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ جمع تپولي۔ مؤنث تپولې۔

وګورئ ټپول۔
ټپون:(ټ۔پ۔ون)حاصل مصدر۔ وګورئ ټپول۔
ټپون:(ټ۔پ۔ون)حاصل مصدر۔ وګورئ ټپول۔
ټپون:(ټ۔پ۔ون)حاصل مصدر۔ وګورئ ټپول۔
ټپونکے:(ټ۔پ۔وون۔کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ ټپول۔
ټپونکے:(ټ۔پ۔وون۔کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ ټپول۔
ټپونکے:(ټ۔پ۔وون۔کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ ټپول۔
ټپونګ:(ټ۔پ۔ونګ)حاصل مصدر۔ وګورئ ټپول۔
ټپونګ:(ټ۔پ۔ونګ)حاصل مصدر۔ وګورئ ټپول۔
ټپونګ:(ټ۔پ۔ونګ)حاصل مصدر۔ وګورئ ټپول۔
ټپونه:(ټ۔پ۔ونه)حاصل مصدر۔ وګورئ ټپول۔
ټپونه:(ټ۔پ۔ونه)حاصل مصدر۔ وګورئ ټپول۔
ټپونه:(ټ۔پ۔ونه)حاصل مصدر۔ وګورئ ټپول۔
ټپونے:(ټه۔پو۔نے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ ټاپه۔ مُهر۔ چاپه۔ هغه ټپونے چې د لرګي نه جوړ وي، توری پکښې کندنې شوي وي او د هغې په ذريعه په درمندونو کښې په رشو او د غلو په ذخيرو وغيره نخښې لګولے شي۔ جمع ټپوني۔
ټپه:(ټ۔په)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)لنډی۔ د پښتو د اولسي شاعرۍ يو صنف چې وړومبی مصرعه ئې نهه سېلابه او دويمه مصرعه ئې ديارلس سېلابه وي۔ (۲)دريچه۔ کړکی۔ (۳)چاپ۔ مهر۔ نخه۔ (افغانستان)۔ (۴)کرامت۔ (افغانستان)۔ (۵)رقعه۔ يادداشت۔ (افغانستان)۔ (۶)ټپې۔ د شاش ياني۔ (افغانستان)۔ (۷)بيانه۔ (افغانستان)۔ جمع ټپې۔ (مصدر کول،ويل)۔
ټپه ټغره:(ټ۔پ۔ټ۔غ۔ره)اسم صفت۔ مرکب۔ غريبي۔ بېره نېستي۔ بې وسي۔ خواري۔
ټپه مار:(ټ۔په۔مار)اسم صفت،فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ ټپې کونکے۔ مجلسي۔ مېلسي۔
ټپهار:(ټپ۔هار)اسم صوت۔ وګورئ ټپار۔
ټپی:(ټ۔پی)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ زخمي۔ ژوبل۔ جمع ټپيان۔ (مصدر کول،کېدل)۔
ټپی مخے:(ټ۔پی۔مه۔مخے)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ ټپلن۔
ټپيسی:(ټ۔پی۔سی)اسم۔ واحد،جمع۔ مؤنث۔ د نخې سر۔
ټپين:(ټ۔پين)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ ټکي ټکي۔ تهلے۔ تهل مخے۔ داغدار۔ ننکو وهلے۔ وګورئ ټپلن۔
ټپۍ:(ټ۔پۍ)اسم۔ واحد،جمع۔ مؤنث۔ (۱)تاپۍ۔ ګپياګه۔ غوشويه۔ (۲)تپه۔ بيانه۔ ساتی۔ پېشګی۔
ټپے:(ټ۔پے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ يو قسم ورکوټے او نرے مار چې په مېرو کښې د غوشيانو د لاندې پروت وي۔
ټپے:(ټ۔پے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)د جوړونو لرد۔ د پېسو بار نيونه۔ (۲)په قميص د کشيدې کار۔ (۳)قدرتي خال۔
ټت:(ټت)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)ټړت۔ ټرت۔ بکواس۔ فضول خبره۔ (۲)تيز۔ باد۔ (۳)کش۔ چوړ۔ جمع ټټونه۔ (افغانستان)۔
ټټا:(ټه۔ټا)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ ټرټو۔ ټټو۔ کړنو۔
ټټا:(ټه۔ټا)اسم۔ وګورئ ټټېدل۔
ټټار:(ټ۔ټار)اسم۔ (۱)ټټی او بې معنې خبرې۔ فضول خبرې۔ ټرار۔ (۲)پرله پسې ټپرونه۔
ټت پت:(ټت۔پت)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ ټال مټول۔ انې باني۔
ټت پت:(ټت۔پت)اسم صفت۔ حير۔ سپک۔
ټت ټت:(ټت۔ټت)اسم صوت۔ ټته۔ ټرته۔ ټرټر۔ ټرار۔ ټرټار۔ وګورئ ټت۔
ټت ټوت:(ټت۔ټوت)اسم۔ ټته۔ ټټار۔ ټرټار۔ عبث او بې ځايه ټرټه۔
ټټن:(ټه۔ټن)اسم صفت۔ واحد جمع۔ مذکر۔ وګورئ ټټو۔ مؤنث ټټنه۔
ټټنګه:(ټ۔ټن۔ګه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ يو قسم چرچنه۔ جمع ټټنګې۔ (افغانستان)۔
ټټو:(ټه۔ټو)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ بکواسي۔ اپلتې۔ کړتو۔ پوزن۔ دوړن۔
ټټول:(ټه۔ټه۔ول)مصدر متعدی۔ د چا نه عبث خبرې ايستل۔ څوک په اپلتو يا ګډو وډو سر کول۔ مضول غرول۔
ټټون:(ټه۔ټه۔ون)حاصل مصدر۔ وګورئ ټټول۔
ټټونکے:(ټه۔ټه۔وون۔کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ ټټول۔
ټټونګ:(ټه۔ټه۔ونګ)حاصل مصدر۔ وګورئ ټټول۔
ټټونه:(ټه۔ټه۔ونه)حاصل مصدر۔ وګورئ ټټول۔
ټټهار:(ټت۔هار)اسم صوت۔ ټټار۔ ټرار۔ ټرهار۔
ټټې پټې:(ټه۔ټې۔پټې)اسم۔ جمع۔ مؤنث۔ فضول خبرې۔ بکواس۔ ټت پټ۔
ټټېدل:(ټه۔ټې۔دل)مصدر لازم۔ ټرټېدل۔ ټرپېدل۔ مضول غرېدل۔ ټت ټت کول۔ بکواس کول۔
ټټېدنګ:(ټه۔ټې۔دنګ)حاصل مصدر۔ وګورئ ټټېدل۔
ټټېدنه:(ټه۔ټې۔دنه)حاصل مصدر۔ وګورئ ټټېدل۔
ټټېدونکے:(ټه۔ټې۔دون۔کے)اسم۔ فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ ټټېدل۔
ټټېده:(ټه۔ټې۔ده)حاصل مصدر۔ د ماضي استمراری د واحد غائب صيغه۔ وګورئ ټټېدل۔
ټټے:(ټ۔ټے)اسم صفت۔ وګورئ ټټو۔
ټپ:(ټپ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)کبر۔ لوئي۔ غرور۔ (۲)غوري طمعې۔ لاپې ساپې۔ (افغانستان)۔ (۳)سر۔ تانبه۔
ټټ:(ټټ)صفت۔ (۱)ټيټ۔ کوږ۔ (۲)بې وسه۔ غريب۔ بې يار و مددګار۔
ټټار:(ټ۔ټار)اسم صوت۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)وګورئ ټټار۔ (۲۔ اسم صفت)وګورئ ټټاري۔
ټټاري:(ټ۔ټا۔ري)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ بازاري۔ هغه څوک چې د پښتونولي نه دور خبر نه وي۔

ټ۔ (ټې۔رل)، ی۔(ضې۔رمې۔ول)، ټ۔(ټما۔لي)، ر(ر۔د۔ر) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

تبارې(تَ-تَبا-رې)اسم- جمع- مؤنث- شور- فریاد- زوږ- (افغانستان)-

تبارے(تَ-تَبا-رے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ تیبارے-

تبارے(تَ-تَبا-رے)اسم- واحد- مذکر- ممر ګر- لوښي جوړوونکے-

تبال(تَ-تبال)اسم- واحد- مذکر- تیبال- خوشامده-

تبازنګ(تَ-تبا-زنګ)اسم صفت- واحد- مذکر- لاپو- لاپي کوونکے-

تبهاوړ(تَ-تبها-وړ)اسم صفت- واحد- مذکر- دوړي ملو- بکواسي- مؤنث بتاوړه-

تپ پرت(تَپ-پرت)اسم- وګورئ تت پت-

تپ تپ(تَپ-تپ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ تت تت-

تپخارے(تَپ-خا-رے)اسم- (۱)د خر د شرلو یا چاخولو دَ پاره یو خله آواز- (۲)دَ ګټو د مندوتو نه تکونه رکشه-

تپحه(تَ-په-حه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ تپړ- جمع تپخې-

تنهر(تَ-تهر)اسم- واحد- مذکر- سینه- تټخه- جمع تټرونه- (السودل سرول وهل یحول وغیره مصدرونه)-

تهری (ته-ري)اسم- واحد جمع- مؤنث- مدری- نیم تس- ځاکت- وسکټ- (افغانستان)-

تپرے(تَپ-رے)اسم- واحد- مذکر- سینه بند-

تپرے(تَ-په-رے)اسم صفت- لاف زن- لاپو- لاپک- (افغانستان)-

تپک(تَ-پک)اسم- واحد- مذکر- تکتکے- د بیلچې یا یوم د ځلې د بلمه په لاسکي کښې- یعني د نسوړلو او زور روکولو موار لرګے-

تپکه(تَ-پَ-که)اسم- واحد- مؤنث- د تپو مؤنث-

تپکے(تَه-پَ-کے)اسم- واحد- مذکر- ورکے تپو- دَ اسپي بچے-

تتن(تَ-تن)اسم- واحد- مذکر- وګورئ تنو-

تپنګ(تَ-پنګ)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- (۱)نایاب- (۲)محالي لاس- تش لاس- نیستي- مصیبت-

تپک(تَ-تپک)اسم- واحد- مذکر- (۱)صحرا- بیابان- (۲)ویره- (۳)اتادي-

تپنکا(تَ-تپن-ګا)اسم- واحد- مؤنث- تیمکه- یو قسم مرغۍ- (افغانستان)-

تپنکه(تَ-تپنګ-که)اسم- واحد- مؤنث- تکلیف- مصیبت- بلا- بلیانه-

تپو(تَ-تپو)اسم- واحد- مذکر- وړوکے اس- یابو- تیټ شان اس- جمع تپوان تپوګان-

تپوسه(تَ-تپو-سه)اسم- واحد- مؤنث- سیدا- تروټه- پچمورځه- ملنده-

تپوسې(تَ-تپو-سې)اسم- واحد جمع- مؤنث- دَ یو بوټي تخم-

تپوسے(تَه-تپو-سے)اسم- واحد- مذکر- (۱)د چنې ګونګرې- (۲)غیروسکے-

تپوغے(تَه-تو-غے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ تیبارے تپارے-

تپوکے(تَ-تپو-کے)اسم تصغیر- واحد- مذکر- وړوکے تټو- وړوکے اس- مانده او کمزورے اس-

تپوه(تَ-تپو-ره)اسم- واحد- مؤنث- د تپو مؤنث- جمع تپوې-

تپیرے(تَ-تپي-رے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ تبارے تیبارے-

تتیغه(تَ-تي-غه)اسم- واحد- مؤنث- د تور- سپین او شین رنګ یو مارغه چې د مرز نه غټ وي او د تي تیار تي تیار آواز کوي-

تتبوت(تَ-تي-وت)اسم- واحد- مذکر- وګورئ تبارے-

تتې(تَ-تې)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)د لړیو مولو کولو ځاے- لنترین- (۲)د عاقلې د پلني کیدو ځاے- سرای- (۳)بیولی- بکي متیارې- غل- (۴)هغه پرده چې د لرګو- کهیو او غنو ازغو نه جوړولے شي-

تتے(تَ-تے)اسم صفت- واحد- مذکر- بکواسي- فضول خبرې کوونکے- پوچ ګو-

تچ(تچ)اسم- واحد- مذکر- لمس- لاس لګونه- ګتي وروړنه- (مصدرونه کړل کښل)- (م- انګریزي)-

تچ(تَچ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)حقیر- کم- معمولي- بې قیمته- بې‌وتې- سپک- (۲)- اسم/قوت- زور- طاقت- جمع تچونه- (افغانستان)-

تچ تچ(اسم صوت- د پوکې د جاودلو آواز- بیاځې د پوچ کیدو آواز-

تچ بتې(تَچ-بتې)اسم- واحد- مؤنث- ټک بتې- یو قسم بتې چې په قمیص لګولے شي او په زور سره یو بل سره تړلولے شي- جمع تچ بتې-

تچ سستم(تَچ-سس-تم)اسم- واحد- مذکر- د تانبې کولو هغه چل چې تانبې کې بوره نه ګرزي او تانبې کوي-

تخ(تخ)اسم صوت- د تخې کولو آواز- هغه آواز چې تخې تری جوړیږي- لهٔ سمي نه د سا د تکلیف سره راوتونکے آواز-

تخا(تَ-خا)اسم- مسلسل تخې-

تخ تخ(تخ-تخ)اسم صوت- پرله پسې تخې- پیر بحبدنه-

تخ توخ(تخ-توخ)اسم صوت- (۱)- تخې مسلسل (۲)- تخ توخ- (۳)ډیز ډوز- مس تړس-

تخر(تَ-خر)اسم- واحد- مذکر- جامې- توکے- جمع تخرونه-

تخل(تَ-خل)مصدر- د سیني نه د سا د تکلیف په نتیجه کښې آواز وکښل-

تخنه(تَ-خه-نه)اسم- تخې-

تخله(تَ-خه-له)اسم- واحد- مؤنث- توخلې- هغه توپې چې غوږونه هم پکښې پټ وي- خولۍ- د غوږونو خولۍ- تخلې- جمع تخلې-

تخلې(تَ-خه-لې)اسم- واحد- مؤنث- ترکله- کتخه- کوچمول-

تخلې(تَ-خه-لې)اسم- مؤنث- وګورئ تخې-

تخلې(تَ-خ-لې)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ تخله ۲-

تخ مخ(تخ-مخ)اسم صفت- مذکر- تس نس- خور ورر- پریشان- ګډوډ-

تخنکے(تَه-خن-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- مائل- شوقي- راغب-

تخول(تَ-خ-ول)مصدر متعدي- (۱)په زور لهٔ ځا نه تخې ویستل- (۲)لهٔ ځا نه راز مطوطول- لهٔ ځا نه په ځن سمي موږل-

تخوکے(تَ-خه-ور-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ تخول-

تخونه(تَ-خ-و-نه)حاصل مصدر- (۱)وګورئ تخول- (۲)د ګټو نه تکونه ایستل-

ترمو (ح-مه-ره) (ووکی (سل) - پیمن (مو ځا ره) ومر (ـ مات) حزم (شکون) - تا (و-ره) (پو-سي-ده)

www.pukhto.net

ټخهار:(ټَخ-هار)اسم صوت- د ټخې مسلسل اواز-

ټخېدل:(ټَ-خې-دَل)مصدر لازم- ټخې کول-

ټخېدلے:(ټَ-خې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ټخېدل-

ټخېدن:(ټَ-خې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ ټخېدل-

ټخېدنګ:(ټَ-خې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ ټخېدل-

ټخېدنه:(ټَ-خې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټخېدل-

ټخېدونکے:(ټَ-خې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټخېدل-

ټخېدهٔ:(ټَ-خې-دهٔ)حاصل مصدر- د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ ټخېدل-

ټخے:(ټَ-خے)اسم- واحد- مذکر- ټخ- کنګ- هغه آواز چې سينې نه د خراشکي رابېلولو په وخت وځي- د مرۍ خارښت-

ټر:(ټَر)اسم صوت- (۱)د کولمو د بادو د زور آواز- (۲)د تيز آواز- د چينډخو آواز- ټرا- (۳)چا پورې د خندا کولو په وخت ادا کېدونکے آواز-

ټر:(ټَر)اسم- واحد- مذکر- عبث خبرې- بکواس-

ټرا:(ټَ-را)اسم صوت- وګورئ ټر-

ټرا:(ټَ-را)اسم- واحد- مؤنث- ديسي شراب- جمع ټرې- اګښل وطل مصدر وبه-

ټراته:(ټرا-ته)اسم- واحد- مؤنث- چيرانګه- چيږه- جمع ټراتې-

ټرافي:(ټرا-في)اسم- واحد- مؤنث- انعام- د لوبو په مقابلو کښې وړکېدونکے لوئ انعام- (اصل کښې هغه انعام چې د پخوانيو جنګونو د مال غنيمت په طور به ئې نمائش کېدو)- جمع ټرافياني- (اش- انګريزي فرانسيسي، يوناني)-

ټراک:(ټراک)اسم- واحد- مذکر- يوه وړه مرمۍ- چټے- چترکے-

ټرالي:(ټرا-لي)اسم- واحد- مؤنث- وړکوټے ګاډے- هغه ګاډے چې ټربکټر پسې تړلے شي او راکښے شي- ام- انګريزي)-

ټرام:(ټرام)اسم- واحد- مذکر- ټرمے- په بجلي چلېدونکے ګاډے چې په پټړۍ چليږي- (م- انګريزي)-

ټرامبون:(ټرام-بون)اسم- مذکر- د موسيقۍ يوه آله-

ټرامويے:(ټرام-وے)اسم- واحد- مذکر- د اسپني د پټړو سړک چې ټرام پرې چليږي- (م- انګريزي)-

ټران:(ټران)اسم صوت- (۱)ټران ټران- ټرار- د موټرو او نورو ګاډو غرغور- (۲)ټرن- ټيرن-

ټرانسسټر:(ټران-سس-ټر)اسم- واحد- مذکر- ټرانزسټر- هغه ريډيو چې په بېټرۍ چليږي- د مسالې ريډيو- (م- انګريزي)-

ټرانسپورټ:(ټرانس-پورټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)سامان د يو ځائ نه بل ځائ ته استونه- (۲)لارۍ، ګاډۍ، موټرې چې سورلۍ او سامان يو ځا بل ځا اوړي راوړي- (م- انګريزي)-

ټرانسپورټر:(ټرانس-پور-ټر)اسم- واحد- مذکر- د ټرانسپورټ مالک- د ګاډو څښتن- هغه سړے چې د لارېو بسونو ملکيت کښې ساتل ئې پېښه وي- ام- انګريزي)-

ټرانسفارمر:(ټرانس-فار-مر)اسم- واحد- مذکر- د بجلي هغه مشين چې د بجلي طاقت متوازن ساتي- ام- انګريزي)-

ټرانسفر:(ټرانس-فر)اسم- واحد- مذکر- بدلي- تبادله- تبديلي- (م- انګريزي)-

ټرانس ميټر:(ټرانس-مي-ټر)اسم- واحد- مذکر- هغه مشين چې بې د بجلي او د هوا د چپو نه آواز د يو ځائ نه بل ځائ ته رسوي- ام- انګريزي)-

ټراوو:(ټ-را-وو)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ټيزن- ټرن- (۲)فضول- بکواس- ټرو- پوچ خلے-

ټرائي:(ټرا-ئي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کوشش- (۲)د ټرانسورانو نه د ټرانسوک امتحان اخستنه- ام- انګريزي)-

ټرائيسيکل:(ټرا-ئي-سي-کل)اسم- واحد- مذکر- د درېو پايو سائيکل- (م- انګريزي)-

ټربائين:(ټر-با-ئين)اسم- واحد- مذکر- هغه څرخ چې د اوبو په ذريعه چورلي او بجلي پيدا کوي- (م- انګريزي)-

ټربائين سسټم:(ټر-با-ئين-سس-ټم)اسم- واحد- مذکر- د ټربائين په ذريعه د بجلي پيدا کولو طريقه- ام- انګريزي)-

ټرپر:(ټر-پر)اسم- واحد- مذکر- عبث خبرې- پوچې خبرې- ټرټر- وګورئ ټټ ټټ-

ټرټ:(ټرټ)اسم صوت- ټر- د ټيز آواز-

ټرټارا:(ټر-ټا-را)اسم- واحد- مؤنث- بې غمي- خوشحالي- مزې- چړچې- جمع ټرټارې-

ټرټ پرټ:(ټرټ-پرټ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ټټ پرټ-

ټرټهار:(ټرټ-هار)اسم صوت- په يو مخ د تېزوتو آواز- ټرهار- ټرار-

ټرټهار:(ټرټ-هار)اسم- جمع- مذکر- فضول خبرې- پوچې خبرې- عبث غږېدنه-

ټرټر:(ټر-ټر)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ټر-

ټرټل:(ټر-ټل)مصدر متعدي- رټل- داړل- چخول- رټل کوټل-

ټرڅے:(ټر-څے)اسم- واحد- مذکر- يو مارغهٔ چې د شپې ځان له پښې ونې سره خوړند کړي او حق حق آواز کوي-

ټرخاول:(ټر-خا-ول)مصدر متعدي- ځان خلاصول- انې باڼې کول- خټول-

ټرخاولے:(ټر-خا-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ټرخاول-

ټرخاون:(ټر-خا-ون)حاصل مصدر- وګورئ ټرخاول-

ټرخاونکے:(ټر-خا-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټرخاول-

ټرخاونه:(ټر-خا-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټرخاول-

ټرسټ:(ټرسټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)اعتبار- باور- (۲)د ټرسټ ايکټ د لاندې د خلقو د خير ښېګړې د پاره جوړه وقف اداره-

www.pukhto.net

ټرسټي:(ټرس-ټي)اسم صفت- واحد- مذکر- د ټرسټ وقف غړی-

ټرکن:(ټر-کن)اسم صفت- واحد- مذکر- مؤنث ټرکنه- بړپه- بې زړه- وېرندونکی- بېرندوکی- بې غیرته- ایرندوک- ټرن- هغه څوک چې له هر څه وېرېږي-

ټرماټر:(ټر-ما-ټر)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ټماټر-

ټرمکا:(ټرم-کا)اسم- واحد- مذکر- (۱)ټرمکا- ټرمکیا- د اُبو جنګاړ کونه- (۲)پېه کونه- اېڅ کونه-

ټرن:(ټ‌ه-رن)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ټرو- ټېزن- (۲)وېرېدونکی- ډرن- مؤنث ټرنه-

ټرنک:(ټرنک)اسم- واحد- مذکر- د اسپنې صندوق- بکس-

ټرني:(ټر-نی)اسم- واحد- مذکر- چونګی- محصول- ګات-

ټرو:(ټ‌ه-رو)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ټر ټر کونکی- کرټو- ټرټو- (۲)ټرن- ډرن- ټېزن- مکواس-

ټرول:(ټ‌ه-ر-رل)مصدر متعدي- (۱)مضول غوول- په پوچو خبرو لګیا کول-ټټول- (۲)موټر یا بل ګاډي ټرول- یا ترې د ټرټر آواز ایستل-

ټرول:(ټ‌ه-ر-رل)مصدر متعدي- (۱)چا سره بد فعلي کول- غول- (۲)په دستونو کول-

ټرولی:(ټ‌ه-ر-وه-لی)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ټرول ۱-

ټرولی:(ټ‌ه-ر-وه-لی)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ټرول (۲)-

ټرون:(ټ‌ه-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ ټرول ۱-

ټرون:(ټ‌ه-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ ټرول ۲-

ټرونکی:(ټ‌ه-ر-رون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټرول ۱-

ټرونکی:(ټ‌ه-ر-رون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټرول ۲-

ټرونه:(ټ‌ه-ر-وه-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټرول ۱-

ټرونه:(ټ‌ه-ر-وه-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټرول ۲-

ټره:(ټ‌ه-ره)اسم- واحد- مؤنث- چړت- غږه- قوزه- جمع ټرې-

ټره:(ټ‌ه-ره)اسم- واحد- مؤنث- دیسي شراب- ټړا- جمع ټرې-

ټره ټره:(ټ‌ه-ره-ټ‌ه-ره)اسم- مؤنث- ټرنار- ټرټېدنه- اخوا دېخوا وساـ ټرټه ټرنه- عبث وساـ فضول خبری- ټرټر- (مصدر کول)-

ټرهار:(ټ‌ه-ر-هار)اسم صوت- وګورئ ټرټهار-

ټرېټر:(ټرې-ټر)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ټرېکټر-

ټریټي:(ټرې-ټي)اسم- واحد- مذکر- معاهده- لوظنامه- (م- انګرېزي)-

ټرېدل:(ټ‌ه-رې-دل)مصدر لازم- (۱)فضول خبرې کول- ټرټر کول- (۲)د چیغو آواز کول- (۳)په دستونو کېدل- نس بهېدل-

ټرېدل:(ټ‌ه-رې-دل)مصدر لازم- په مزه مزه تلل-

ټرېدلی:(ټ‌ه-رې-ده-لی)اسم مفعول- واحد- مذکر- له ټرېدل اسم مفعول- په دستونو تلی-

ټرېدلی:(ټ‌ه-رې-ده-لی)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ټرېدل-

ټرېدن:(ټ‌ه-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ټرېدل-

ټرېدن:(ټ‌ه-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ټرېدل-

ټرېدنګ:(ټ‌ه-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ټرېدل-

ټرېدنګ:(ټ‌ه-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ټرېدل-

ټرېدنه:(ټ‌ه-رې-ده-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټرېدل-

ټرېدنه:(ټ‌ه-رې-ده-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټرېدل-

ټرېدونکی:(ټ‌ه-رې-دون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټرېدل-

ټرېدونکی:(ټ‌ه-رې-دون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټرېدل-

ټرېده:(ټ‌ه-رې-ده)حاصل مصدر- د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ ټرېدل-

ټرېده:(ټ‌ه-رې-ده)حاصل مصدر- د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ ټرېدل-

ټرېډ:(ټرېډ)اسم- واحد- مذکر- تجارت- سوداګري- (م- انګرېزي)-

ټرېډمارک:(ټرېډ-مارک)اسم- واحد- مذکر- د تجارت یا د صنعت د پاره ځانګړی خاص نښه مقرروونه- تجارتي نښه- (م- انګرېزي)-

ټرېسر:(ټرې-سر)اسم- واحد- مذکر- هغه څوک چې نقشې جوړوي- ټرېسنګ کوونکی-

ټرېفک:(ټرې-فک)اسم- واحد- مذکر- په سړک د سورلو او ګاډو چلند- ترافیک- (افغانستان)- (م- انګرېزي)-

ټرېکټر:(ټرېک-ټر)اسم- واحد- مذکر- ټرېټر- هغه ماشیني ګاډی چې ځمکې پرې اړول کېږي او د کروندې سره متعلق کار پرې کول کېږي- (م- انګرېزي)-

ټرېم:(ټرېم)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ټرام- (م- انګرېزي)-

ټرېم وې:(ټرېم-وې)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ټرام وې- (م- انګرېزي)-

ټرېن:(ټرېن)اسم- واحد- مذکر- ریل ګاډی- د اور ګاډی- (م- انګرېزي)-

ټرېنډ:(ټرېنډ)اسم صفت- واحد- مذکر- تجربه کار- تربیت یافته- ماهر- (م- انګرېزي)-

ټرېننګ:(ټرې-ننګ)اسم- واحد- مذکر- تربیت- د کوم فن یا کار باقاعده زده کړه- (مصدرونه کول-حاصلول)-

ټړی:(ټ‌ه-ړی)صفت- واحد- مذکر- وګورئ ټراوو-

ټړی:(ټړی)اسم- واحد- مذکر- مجمع- پنډوس- (م- انګرېزي)-

ټړی:(ټ‌ه-ړی)اسم- واحد- مذکر- د چتي هومره مرغی چې په یو ځای نه تمبکېږي او هر وخت ډانګي راډانګي-

ټز:(ټز)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ټیز-

ټزن:(ټ‌ه-زن)اسم صفت- واحد- مذکر- ټېزن- ټرمار- بې غیرته- وېرندوکی-

ټزول:(ټ‌ه-زول)مصدر متعدي- ټزول- په ټیزونو راوستل-

ټزولی:(ټ‌ه-ز-وه-لی)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ټزول-

ټزون:(ټ‌ه-ز-ون)حاصل مصدر- وګورئ ټزول-

زور (ح-ـه-ره) روړکی(شل) پېښ (پو-کا-ره) زور (ک-ـسا-ب)، جزم (سکون)، ه (ر-ره) ۀ (پو-جي-ده)

ټروبګ:(ټه-ر-وبګ)حاصل مصدر- وګوری ټرول-
ټروبه:(ټه-ر-وبه)حاصل مصدر- وګوری ټرول-
ټروونکے:(ټه-ر-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری ټرول-
ټس:(ټس)اسم صوت- د څه کلک څیز د ماتېدو آواز- د ټوپري آواز-
ټس:(ټس)اسم- واحد- مذکر- (۱)وجه- سبب- سوب- (۲)پوسکی- (۳)زور څیز- وروست څیز- (۴)بدل- بز- (۵)اسم صوت- د پوسکي آواز-
ټس:(ټس)اسم- واحد- مذکر- به مزه مزه ژړا- جمع ټسې- (م- هندی)-
ټسا:(ټ-سا)اسم- ټسار- ټقا- د ټس ټس پوله پسې آواز-
ټس پس:(ټس-پس)اسم صفت- (۱)عبث- فضول- (۲)ناپهانېدلو- کچه-
ټسټ:(ټسټ)اسم- واحد- مذکر- امتحان- ازمېښت- تجربه- جمع ټسټونه- (م- انګریزی)-
ټس ټس:(ټس-ټس)اسم- واحد- مذکر- (۱)پس پس- پسار- کنګوسے- ورو ورو خبری- (۲)پټه ژړا-
ټس ټس:(ټس-ټس)اسم صوت- (۱)د څه څیز د ماتېدو آواز- پزی پرزی- (۲)د جنګ نښه-
ټسر:(ټ-سر)اسم- واحد- مذکر- مصنوعی ورېښم- معمولی ورېښم- له مصنوعی ورېښمو جوړه کپړه-
ټسری:(ټ-سه-ری)اسم- د ټسر نه جوړ-
ټسک:(ټسک)اسم- واحد- مذکر- وارن- وېرېدونکے- بېکاره- بې زړه- بې خونده- د بل لاسو ته ناست-
ټسکوره:(ټس-کو-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګوری ټسکوره-
ټسکورے:(ټس-کو-رے)اسم- واحد- مذکر- ځغېدلي ورېږی- دغه وربږی چې په تنور کښې پخېدلي وی-
ټسکول:(ټس-ک-ول)مصدر متعدی- ژړول-
ټسکون:(ټس-ک-ون)حاصل مصدر- وګوری ټسکول-
ټسکونکے:(ټس-ک-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری ټسکول-
ټسکونګ:(ټس-ک-ونګ)حاصل مصدر- وګوری ټسکول-
ټسکونه:(ټس-ک-و-نه)حاصل مصدر- وګوری ټسکول-
ټسکه:(ټس-که)اسم- واحد- مؤنث- ټپر- ټسکے- اوبه-
ټسکه ټسکه:(ټس-که-ټس-که)اسم- د ژړا د پاره تحقیری کلمه-
ټسکی:(ټس-کی)اسم- مؤنث- (۱)بې خوندی- سستی- لټوالے- لټتوب- (۲)پخوالے- پختوب-
ټسکېدل:(ټس-کې-دل)مصدر لازم- ورو ورو ژړل- په سلګو سلګو ژړل- ټسکے کول-
ټسکېدلے:(ټس-کې-د-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګوری ټسکېدل-
ټسکېدن:(ټس-کې-دن)حاصل مصدر- وګوری ټسکېدل-
ټسکېدنګ:(ټس-کې-دنګ)حاصل مصدر- وګوری ټسکېدل-
ټسکېدنه:(ټس-کې-د-نه)حاصل مصدر- وګوری ټسکېدل-

ټسکېدونکے:(ټس-کې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری ټسکېدل-
ټسکېده:(ټس-کې-ده)حاصل مصدر- د ماضي استمراری د واحد غائب صیغه- وګوری ټسکېدل-
ټسکے:(ټس-کے)اسم- واحد- مذکر- له ژړا نه پکې خمری- له غریو ډکه آواز- په ژړا کښې سلګی وهل-
ټسکے:(ټس-کے)اسم صوت- د جنګ په وخت د دوو پیشوګانو آواز-
ټسلک:(ټس-لک)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ټسکو- ټسکن- ټسکاری- (۲)وګوری ټسک-
ټسمس:(ټس-مس)اسم صفت- واحد- مذکر- لټ- سست- بېکاره- ناراسته-
ټس:(ټه-سن)اسم- واحد- مذکر- اوم تار- کچه تار-
ټسن:(ټه-سن)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)هغه سړے چې بې خایه نخرې کوی- (۲)وګوری ټسلک-
ټسو:(ټه-سو)اسم- واحد- مذکر- وګوری ټسلک-
ټسو:(ټ-سو)اسم صفت- واحد- مذکر- ډېر لږ- معمولي- کم- لږ شانتې- لګوټې- لږ کوټې- یو مکس-
ټسول:(ټ-س-ول)مصدر متعدی- ټکول- غربول- دبزل- وړزل-
ټسولے:(ټ-س-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګوری ټسول-
ټسومار:(ټ-سو-مار)متعلق فعل- په شریکه یو کس وهنه- په ګډه یو کس راګېرونه او وهنه- جمع ټسومارونه-
ټسون:(ټ-س-ون)حاصل مصدر- وګوری ټسول-
ټسونکے:(ټ-س-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری ټسول-
ټسونګ:(ټ-س-ونګ)حاصل مصدر- وګوری ټسول-
ټسونه:(ټ-س-و-نه)حاصل مصدر- وګوری ټسول-
ټسهار:(ټه-سه-هار)اسم صوت- وګوری ټسا-
ټسهر:(ټه-سه-هر)اسم صوت- وګوری ټسا-
ټسی:(ټه-سی)اسم صفت- لانو- دروغ ګو- پوزی مار-
ټسیا:(ټس-یا)اسم صوت- وګوری ټسا-
ټسې:(ټه-سې)اسم- جمع- مؤنث- لاپې- پوزی- دروغ ګوئی-
ټسېدل:(ټ-سې-دل)مصدر لازم- ټکېدل- وهل کېدل- غربېدل- دبېدل-
ټسېدلے:(ټ-سې-د-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګوری ټسېدل-
ټسېدن:(ټ-سې-دن)حاصل مصدر- وګوری ټسېدل-
ټسېدنګ:(ټ-سې-دنګ)حاصل مصدر- وګوری ټسېدل-
ټسېدنه:(ټ-سې-د-نه)حاصل مصدر- وګوری ټسېدل-
ټسېدونکے:(ټ-سې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری ټسېدل-
ټسېده:(ټ-سې-ده)حاصل مصدر- د ماضي استمراری د واحد غائب صیغه- وګوری ټسېدل-
تغ تغ:اسم صفت- تغ سترګے- تغې سترګې لرونکے- تاغے-
تغ:(تغ)اسم- واحد- مذکر- (۱)اشن تغ- (۲)تانه- (۳)اشه تنا- (۴)د سترګو

www.pukhto.net

پاسې پرده۔ (۵)نېز۔

ېغ:(ېغ)اسم صوت۔ (۱)د نیولو په وخت د چرګ آواز۔ (۲)د حنو بیمارو په سینه کښې د مرګ په وخت د چرګ آواز۔

ېغ:(ېغ)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ راکوړ۔ پیغ۔ کوږ۔ پوږ موږ۔ کنځلک۔

ېغ:(ېغ)اسم۔ د مالوچو بکوړ۔ تاوړه مالوچ۔

ېغا:(ېغ-غا)اسم صوت۔ د ېغ ېغ آواز۔ پرله پسې ېغ ېغ۔

ېغارے:(ېغ-غا-رے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)موکه۔ موقه۔ بالبے۔ (۲)مغارے۔ تابکے۔

ېغمے:(ېغ-مه-مے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ ېږ۔

ېغ بغے:(ېغ-بغ-غے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ ېغ ېغه۔ کاغه۔ قاغه۔ د کارغه په شان یو حلال مارغه۔ د ساتنې نوم د پاره وګورئ کاغه۔

ېغر:(ېغ-غر)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)کمبل۔ یو قسم فرش۔ موم جامه۔ (۲)یو قسم ولړه۔ (۳)د بلو وړونکو څاروو په شا اچولے کېدونکے څل چې څرڅورے هم ورته وائي۔ جمع ېغروسه۔

ېغره:(ېغ-غره)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ ېپه ېغره۔

ېغ سترګے:(ېغ-ستر-ګے)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ ټاڅے۔

ېغکے:(ېغ-ګے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)ېغے۔ د چرګانو چرګوړېو ممارې چې ژر ژر یې وژني۔ (۲)وباڼې مرګ۔ (۳)نزله۔ زکام۔ ېغله۔ (افغانستان)۔

ېغکے:(ېغ-ګے)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ مست۔ نشانې۔ کلاسکار۔ (افغانستان)۔

ېغل:(ېغ-غل)مصدر متعدي۔ تېرویستل۔ دوکه کول۔ ټګل۔ تېرایستل۔

ېغلے:(ېغ-غه-لے)اسم مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ ېغل۔

ېغمغ:(ېغ-مغ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ سخت زکام چې سینه او پوزه ئ نیولې وي۔

ېغمه:(ېغ-مه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)برېږ۔ کاروړه۔ (۲)ظلم۔ مصیبت۔ غضب۔ (۳)بره بده خبره۔ بې مناسبه خبره۔ لعنت۔

ېغن:(ېغ-غن)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)برېدونکے۔ ویرېدونکے۔ ېیرن۔ وارن۔ (۲)بخندونکے۔ (۳)نور زور کونکے۔

ېغن:(ېغ-غن)حاصل مصدر۔ وګورئ ېغل۔

ېغنګ:(ېغ-غنګ)حاصل مصدر۔ وګورئ ېغل۔

ېغنه:(ېغ-غنه)حاصل مصدر۔ وګورئ ېغل۔

ېغو:(ېغ-غو)اسم۔ جمع۔ مذکر۔ د ېغ جمع۔ (عام طور سره د سترګو د پاره راځي)۔

ېغول:(ېغ-غول)مصدر متعدي۔ (۱)خفه کول۔ زهیرول۔ ضرور رسول۔ (۲)څول په عبث خبرو مجبورول۔ (۳)چرګانو ته د ېغ ېغ آواز ایستل۔

ېغولے:(ېغ-غو-لے)اسم مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ ېغول۔

ېغون:(ېغ-غون)حاصل مصدر۔ وګورئ ېغول۔

ېغونکے:(ېغ-غون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ ېغل۔

ېغونکے:(ېغ-غون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ ېغول۔

ېغونګ:(ېغ-غونګ)حاصل مصدر۔ وګورئ ېغول۔

ېغونه:(ېغ-غونه)حاصل مصدر۔ وګورئ ېغول۔

ېغهار:(ېغ-ها-ر)اسم صوت۔ د چرګانو پرله پسې د ېغ ېغ آواز۔

ېغې سترګې:(ېغې-ستر-ګې)اسم صفت۔ جمع۔ مؤنث۔ ېغ سترګې۔ ټېټې سترګې۔ ېغې سترګې۔ بوږې سترګې۔ ږوږې سترګې۔ راوتې سترګې۔ بې حیا سترګې۔

ېغېدل:(ېغ-غې-دل)مصدر لازم۔ (۱)عصول غوبېدل۔ عبث خبرې کول۔ (۲)د چرګانو ېغ ېغ آواز کول۔ (۳)بد عادتېدل۔ خوږېدل۔ کرېدل۔ (افغانستان)۔

ېغېدلے:(ېغ-غې-دلے)اسم مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ ېغېدل۔

ېغېدن:(ېغ-غې-دن)حاصل مصدر۔ وګورئ ېغېدل۔

ېغېدنګ:(ېغ-غې-دنګ)حاصل مصدر۔ وګورئ ېغېدل۔

ېغېدنه:(ېغ-غې-دنه)حاصل مصدر۔ وګورئ ېغېدل۔

ېغېدونکے:(ېغ-غې-دون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ ېغېدل۔

ېغېدۀ:(ېغ-غې-دۀ)حاصل مصدر۔ د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه۔ وګورئ ېغېدل۔

ېغے:(ېغ-غے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ ېغکے۔

ېغن:(ېغ-غن)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د عرضي روټۍ۔ برېښر۔ د برېښو روټۍ۔ (م۔ انګرېزي ټهنګ)۔

ېغن بلسکټ:(ېغ-غن-بلس-کټ)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ د خوراک ټوکرۍ۔ (م۔ انګرېزي)۔

ېغن کېرئیر:(ېغ-غن-کې-ري-یر)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د خوراک وړلو لوښے یا ډبے۔ (م۔ انګرېزي)۔

ېق:(ېق)اسم صوت۔ (۱)د څه کلک څیز د پرېوتو او ماتېدو آواز۔ د ټوپک ډز۔ (۲)د ګټو د بندېدو نه وتے آواز۔ ټک۔ (۳)د دروازې د وهلو آواز۔ (۴)د وخت سره د طوالت معنی ورکونکے متعلق فعل لکه ېق تماشام۔ ېق سحر۔

ېقا:(ېق-قا)اسم صوت۔ پرله پسې د ېق ېق آواز۔ تقهار۔ ېقا۔ ېقارے۔ ټکا۔

ېقار:(ېق-قار)اسم صوت۔ وګورئ ېقا۔

ېقارے:(ېق-قا-رے)اسم صوت۔ وګورئ ېقا۔

ېقاله:(ېق-قا-له)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ نقل۔ پېښه۔ ملنډه۔ ټوکه۔ ټکاله۔ رشته۔ د خندا خبره۔ دې سره ټوقه د سابقې په توګه استعمالېږي۔ جمع ېقالې۔

ېقالی:(ېق-قا-لی)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)ټوقي کونکے۔ رشتي کونکے۔ نوقمار۔ ټوقي۔ ټکالی۔ (۲)تېزمکره۔ (افغانستان)۔

ېقر:(ېق-قر)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ ټکر۔

ېقره:(ېق-قره)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ ټکره۔

ېقول:(ېق-قول)مصدر متعدي۔ وګورئ ټکول۔

ېقولے:(ېق-قو-لے)اسم مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ ېقول۔

www.pukhto.net

تقون:(تَ-قُ-وُن)حاصل مصدر- وګورئ تقول-

تقونکے:(تَ-قُ-وُن-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ تقول-

تقونګ:(تَ-قُ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ تقول-

تقونه:(تَ-قُ-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ تقول-

تقه:(تَ-قه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ تکه-

تقهار:(تَق-هار)اسم صوت- وګورئ تقا-

تک:(تَک)اسم- واحد- مذکر- (۱)تاکو- د ښارو یو مرض- (۲)کم- (۳)اوار- (۴)برند- پوله- (۵)بانی میراث- (۶)د خربوزو، خټکو وغیره د کرلو ځاي- (۷)هغه لرګے چې زمیدار پری وخت معلوموی- (۸)اعتراض- تنقید- (۹)ګذار- ګوذار- (۱۰)په حلق کښې راختونکې خطرناکه دانه- (۱۱)ضد- کینه- بُګه- بغض- عداوت- کرکه- (۱۲)وګورئ اړ- (جمع تکونه)-

تک:(تک)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)لږ- نرم- (۲)عین- ټیک-

تک:(تک)اسم صوت- وګورئ تق-

تکا:(تَ-کا)اسم صوت- وګورئ تقا-

تکارکے:(تَ-کار-کے)اسم- واحد- مذکر- وچه میره- دښته- لتمه- سخته هواره زمکه چې واښهٔ پکښې زرغنه نهٔ کوی-

تکارے:(تَ-کا-رے)اسم- واحد- مذکر- یوه ځنګلی ونه چې لرګے ئې په سوزېدو کښې ډېر ټکارے کوی- تقارے-

تکال خور:(تَ-کال-خور)اسم صفت- واحد- مذکر- ډېره تېکاله خوړونکے- خوراکی- ووږی غرپ- تیارخور-

تکالکه:(تَ-کال-که)اسم- تالکه- تورغی- یوه وړه مرغی-

تکال مار:(تَ-کال-مار)اسم صفت- واحد- مذکر- روټی مار- مېلمه دوست- ډوډی مار-

تکال ماری:(تَ-کال-ماري)اسم- مېلمه دوستی-

تکاله:(تَ-کا-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ تقاله-

تکالی:(تَ-کا-لي)اسم صفت- وګورئ تقالی-

تکان:(تَ-کان)اسم- واحد- مذکر- (۱)تبدیل خوړنه- ټوکر وهنه- د اس یا د بل څیز تیندک- (۲)جرق خوړنه- خنکدنه- د زلزلې په وجه د زمکې جرق خوړنه-

تکان کر:(تَ-کان-کر)اسم- واحد- مذکر- د جوارو د ټکولو لرګے-

تکانه:(تَ-کا-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د وسپدو ځاي- ټېکله- تکله- (۲)اندازه- حد- جمع تکانې- (افغانستان)-

تکانه:(تَ-کا-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ تکله- جمع تکلې-

تک پرک:(تَک-پرک)اسم صوت- د مرز آواز- پیت پړق-

تک په تک:(تَک-په-تَک)متعلق فعل صفت- سمدستی- ژر- په هغه ساعت- فوراً- لکو ترک-

تک تک:(تَک-تَک)اسم صوت- د دوو څیزونو د یو بل سره د جنګېدو آواز- د ګړی د سکنډونو د ستن آواز- تقا-

تکتکاتے:(تَک-تَ-کا-تے)اسم- واحد- مذکر- یو خاص قسم ګونګټ- جمع تکتکاتی-

تکتکانکه:(تَک-تَ-کان-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د ماشومانو یوه لوبه- تکتکاره- (۲)یو قسم چیچے- جمع تکتکانکې-

تکتکانه:(تَک-تَ-کا-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)تکتکے- تکتکه- تکتکی- تکتکے- د ژرندې ناوی سره لګېدلے هغه لرګے چې یو سر ئې د ژرندې پل سره لګی او په دې حرکت داني لږ لږ ناوې ته راځی- (۲)یو قسم مرغی چې ونه ټکوی او چسخي تری راوباسی- ترکاڼ-

تکتکاے:(تَک-تَ-کا-ے)اسم- واحد- مذکر- (۱)د ماشومانو یوه لوبه- (۲)تکتکانه- یو قسم مرغی- (۳)د مارغانو د ویرولو او شړلو د پاره ونه کښې تړلے شوے لرګے-

تکتکه:(تَک-تَ-که)اسم- واحد- مؤنث- نری بحی- یو قسم ډېره باریکه بخی-

تکتکه:(تَک-تَ-که)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ تکتکانه-

تکتکی:(تَک-تَ-کي)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)وګورئ تکتکانه- (۲)یو قسم مرغی-

تکتکے:(تَک-تَ-کے)متعلق فعل- ناآرامی- ناقلاری-

تکتکے:(تَک-تَ-کے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم کب چې لوئ بریتونه لری او د وجود برنی حصه ئې توره وی-

تکتکے:(تَک-تَ-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ټپټپنے- موټرسائیکل- ټکټکے- وب بنے- (۲)هغه د لرګی جوړ فرسم چې د بښتونو او ګوډرو د سزا د پاره پری مجرم تړلے شی- (۳)وګورئ ټپک-

تک توک:(تَک-توک)اسم صوت- (۱)په یو مخ د ورو آواز- د ورو وسلو ورو آواز- (۲)د دوو څیزونو د یو بل سره د جنګېدو مسلسل آواز-

تک توک:(تَک-توک)اسم مرکب- (۱)ټکه ټوکه- وروکے وروکے سامان- وړه سودا- (۲)ټکړې ټکړی- (۳)ماتې پیسې- ریزګاری- (۴)د ښاروی حلالولو او ویشنه- سمسلونه- (۵)پړی پړی-

تکر:(تَ-کر)اسم- واحد- مذکر- (۱)تصادم- ټکر- ټکره- ډبکه- ټپله- (۲)ورکه- (۳)نقصان- (مصدرونه خوړل ورکول)-

تکر:(تَ-کر)اسم- واحد- مذکر- د حرکاری ځای او پېشه-

تکر:(تَ-کر)اسم- واحد- مذکر- ټول- ټوکره- (افغانستان)-

تکر:(تَ-کر)اسم- واحد- مذکر- ټاکر- ماکو- کالو- مانو- مارمچی- هغه موچې چې د ګرمی د موسم د تېرېدو نه پس ئې لشه پکه شی-

تکره:(تَ-کره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ټغره- (۲)تیندک- (۳)ټغره- ټوکره- جمع تکرې-

تکری:(تَ-کري)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ټکری خوړونکے- ټکرمار- بدقسمته- چې سر تندے ئې نه لری- (۲)د حرکارانو سره کار کوونکے-

تکسال:(تَک-سال)اسم- واحد- مذکر- هغه ځای چې روپی پکښې جوړېږی- جمع تکسالونه- (م- هندی)-

یٔ (ځی-ړل)، یٔ (مي-ره-ول)، ۍ (پیا-لي)، ېٔ (تن-دي) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www pukhto net

ټکسالي:(ټک-سا-لي)اسم- واحد- مذکر- سوچه- کره- دٔ ټکسال سره تعلق لرونکے-

ټکسر:(ټک-سر)اسم- واحد- مذکر- کرس- ټکر- پغوړه-

ټکسره:(ټک-سَ-ره)اسم- واحد- مؤنث- هغه مرغئ چې پهٔ سر يې داغ وي- شين سرے-

ټکسرې:(ټَ-کَ-س-رې)اسم- مؤنث- د کهو بزو او نورو څارو محصول- (افغانستان)-

ټکسرے:(ټک-سَ-رے)اسم صفت- واحد- مذکر- بې شرمه- سپين سترګے- بې حيا-

ټکک:(ټَ-کَک)اسم صفت- واحد- مذکر- بېخي پک- تر ځلې ځلې پک- پېر پک- سر تر سره پک- (افغانستان)-

ټککه:(ټَ-کَ-که)اسم- واحد- مؤنث- ټکټکے- هغه لرګے چې د پوم د ځلې د پاسه پهٔ پټه د زور ورکولو د پاره لګولے شوے وي-

ټک لاس:(ټک-لاس)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ټک لاسکے- وران کارے- ټک لاستے- ټک لاسے- (۲)چالاک- چست- تکړه- (۳)نشانه باز- (۴)زړهٔ ور- (۵)هغه سړے چې هر وخت يې لاس د وهلو دٔ پاره پهٔ حرکت کښې وي-

ټک لاستے:(ټک-لاس-تے)اسم صفت- واحد- مذکر- جمع ټک لاستي- وګورئ ټک لاس-

ټک لاسکے:(ټک-لاس-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ ټک لاس-

ټک لاسے:(ټک-لا-سے)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ ټک لاس-

ټکله:(ټَ-کَ-له)اسم- واحد- مؤنث- هغه تخم چې پهٔ زمکه کښې پاتې شي او ضائع شي-

ټکله:(ټَ-کَ-له)اسم- واحد- مؤنث- ککورے- ټکلے-

ټک لهٔ ټکه (ټک-لهٔ-ټ-که)متعلق فعل/صفت- سمدستي- ناڅاپي- ټک پهٔ ټک- (افغانستان)-

ټکن:(ټَ-کن)اسم صفت- واحد- مذکر- برک بروک- ټکې ټکې-

ټکنده:(ټَ-کن-ده)اسم- واحد- مؤنث- ټکبې- ټکنه- دٔ ګرمۍ نه سره شوې- شېدلې- پهٔ خواږي کښې- پهٔ پېغلتوب کښې-

ټکه ټوکه:(ټَ-که-ټو-که)اسم- واحد- مؤنث- واړهٔ واړهٔ کاروبه- سود سودا- احوا دحو کاروبه- لپر پتر-

ټکمخے:(ټک-مه-خے)اسم صفت- واحد- مذکر- ټکې مخے- هغه څوک چې پهٔ مخ يې داغونه وي-

ټکلے:(ټَ-کَ-لے)اسم- واحد- مذکر- ککورے- دٔ باجې ريکارډ- دٔ ګراموفون ککورے-

ټکمه:(ټ-که-مه)اسم- واحد- مؤنث- ټاپه- مهر-

ټکنيک:(ټک-نيک)اسم- واحد- مذکر- هنر- چل- طريقه- سليقه- ساخت- جوړښت- فن- (م- انګريزي)-

ټکنۍ:(ټَ-کَ-نۍ)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ ټکنه-

ټکے:(ټ-که-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- مست- خوان- خنے-

ټکنے:(ټَ-کَ-نے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ترمدونکے- پښه نيولے- مات زړے- رنځ- کاکيرے- (۲)متردد- دوه زړے- (۳)مظلوم-

ټکنه:(ټَ-کَ-نه)اسم- واحد- مذکر- سره- ټکنده- ټکنۍ-

ټکنے:(ټَ-کَ-نے)اسم صفت- (۱)بيرندے- ګرندے- تېز- (۲)ترهېدونکے- ځمارږ- (۳)لټ- سست- ناراست- جمع ټکني-

ټکوپټرے:(ټَ-کو-پټ-رے)اسم صفت- فوري طور سره صحت موندونکے- د موثر علاج نتيجه کښې فوراً صحت ياب-

ټکوپو:(ټَ-کو-پو)اسم صفت- ناڅاپه مړ- ناګهانه مړ- سمدستي مړ- ټک د ټکه مړ-

ټک و ټوک:(ټَ-کو-ټوک)اسم صوت- ټکار- ټسار- ژر ژر او پرله پسې وزې-

ټکوچ:(ټَ-کوچ)اسم- واحد- مذکر- ګنډنه- ګنډ- دٔ بېټن پهٔ ځای ټک ورکونه-

ټک وڅپ:(ټَ-کو-څپ)اسم صفت- فی الفور- بې پيله-

ټکور:(ټَ-کور)اسم- واحد- مذکر- بدرى- تيندک- ټکره- کنګس- (افغانستان)-

ټکور:(ټَ-کور)اسم- واحد- مذکر- وجود له پهٔ تود ټيکرې، کاڼي يا بل څهٔ تپ ورکونه- ټبنه- تپ- د وجود يو اندام ته ګرمي رسونه- دردېدونکي ځای له تپ ورکونه-

ټکورکے:(ټَ-کور-کے)اسم تصغير- وړوکے پوزے- پوزکے- دٔ ميزرۍ جوړ وړوکے انبرے- ټکورے- ټکورے-

ټکوروِل:(ټَ-کو-ر-وِل)مصدر متعدي- (۱)تبل- ټبل- تودول- ګرمول- (۲)وهل- (۳)ريان ورسول- تاوان ورسول-

ټکوروِن:(ټَ-کو-ر-وِن)حاصل مصدر- وګورئ ټکوروِل-

ټکوروونکے:(ټَ-کو-ر-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټکوروِل-

ټکوروِنګ:(ټَ-کو-ر-وِنګ)حاصل مصدر- وګورئ ټکوروِل-

ټکوروِنه:(ټَ-کو-ر-وِ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټکوروِل-

ټکوره:(ټَ-کو-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)زخم يا پرهر ټکوروِنه- ټکور- (۲)ګوزار-

ټکورې:(ټَ-کو-رې)اسم- جمع- مذکر- کټورې- دٔ اېو څښلو لوښي- (افغانستان)-

ټکورېدل:(ټَ-کو-رې-دل)مصدر لازم- (۱)تبل کېدل- ټکور کېدل- (۲)تاواني کېدل- ضررېدل- (۳)وهلے کېدل- (د سزا پهٔ طور)-

ټکورېدن:(ټَ-کو-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ټکورېدل-

ټکورېدنګ:(ټَ-کو-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ټکورېدل-

ټکورېدنه:(ټَ-کو-رې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټکورېدل-

ټکورېدونکے:(ټَ-کو-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټکورېدل-

ټکورېدهٔ:(ټَ-کو-رې-دهٔ)حاصل مصدر- د ماضي استمراري دٔ واحد غائب صيغه- وګورئ ټکورېدل-

www.pukhto.net

ټکورے:(ټ-کو-رے/ټ-کو-رے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ټکورکے-

ټکوسترى:(ټ-کو-ست-رى)اسم- سمدستي ختمونه- کوتره کونه- د يو پل د پاسه راغرخونه- ټکوسترے- (مصدرونه کژل/کېدل)-

ټکوسترے (ټ-کو-ست-رے)اسم- وګورئ ټکوسترى-

ټکول:(ټ-کول)مصدر متعدى- (۱)وهل- دربول- پېژل- (۲)کوټل- (۳)قيمه کول- ورژل- (۴)خصى کول- (۵)چيچل-(۶)د غلي نه دانې بېلول-

ټکولے:(ټ-کو-ل-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ټکول-

ټکون:(ټ-کون)حاصل مصدر- وګورئ ټکول-

ټکونکے:(ټ-کون-کے)اسم فاعل/صفت- واحد- مذکر- (۱)د ژرندى د پلونو تيرۀ کونکے- (۲)د ژرندى تېز چورلونکے-

ټکونکے:(ټ-کو-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټکول-

ټکونګ:(ټ-ک-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ټکول-

ټکونه:(ټ-ګ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټکول-

ټکوبے:(ټ-کو-و-بے)اسم- واحد- مذکر- (۱)د پول لاستے- هغه لرګے چې پول پرې وهلے شي- (۲)د ټکولو کار- د عمل نه د دانو ايستلو کار-

ټکونے:(ټ-کو-و-نے)اسم- واحد- مذکر- د وهلو پېژلو دبمنى-

ټکوپ:(ټ-کوپ)اسم- واحد- مذکر- (۱)د ماشومانو يوه لوبه- کوپے- (۲)نوى راروغېدونے- سر وهنه- (افغانستان)-

ټک وهل:(ټک-و-هل)مصدر متعدى- (۱)بخى لګول- منهل- نمه ايستل- (۲)ختمول- خلاصول- کېښودل-

ټک وهلے:(ټک-و-هل-لے)اسم معمول- واحد- مذکر- وګورئ ټک وهل-

ټک وهن:(ټک-و-هن)حاصل مصدر- وګورئ ټک وهل-

ټک وهنګ:(ټک-و-هنګ)حاصل مصدر- وګورئ ټک وهل-

ټک وهنه:(ټک-و-هنه)حاصل مصدر- وګورئ ټک وهل-

ټک وهونکے:(ټک-و-هون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټک وهل-

ټکه:(ټ-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کنده- پرعلګے- (۲)انديښنه- وهم- ويره- (۳)سمدستي- له سره- (۴)بغض- کينه- کرکه- نفرت- دښمنى- (۵)د ټيکانو لوبه- (۶)لاس پرکونه-

ټکه:(ټه-که)اسم- واحد- مؤنث- د انې نيمه- دوه پيسيز- دوه پيسې وال-

ټکه:(ټ-که)اسم- تناه- د اسمان د ګرځېدو آواز- صاعقه-

ټکه:(ټ-که)اسم- (۱)امرنيزه بزه- غرځني بزه- غرځه- (۲)سر کشه بزه- هغه بزه چې د رمې په سر کښې روانه وى-

ټکه ټوکه:(ټ-که-ټو-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)لوبى- سامان- (۲)تيارى- (۳)کش کرپ- حرکت- (۴)ټک ټوک-

ټکه چال:(ټ-که-چال)اسم- واحد- مذکر- په ورو ورو تګ- پټې راکښه-

ټکه سرے:(ټ-ک-س-رے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)هغه سپاهى چې په تنخواه نوکر وى- د باقاعده فوځ يا پوليس غړے- (۲)بې خونده- بې قيمته- ټکه سرے- حقير-

ټکهار:(ټ-ک-هار)اسم صوت- (۱)پرله پسې د ټک ټک آواز- (۲)د ورو وسلو ډزې-

ټکبار:(ټ-که-بار)اسم صفت- واحد- مذکر- ټکنے- اندېښمن- شکمن- ناقلاره-

ټکى:(ټه-کى)متعلق فعل/صفت- په ځاى- سمدستى- فوراً- دا وخت- دا دم- دا ساعت- (الف يا په سره راځى)-

ټکى په ټکى:(ټه-کى-په-کى)صفت/متعلق فعل- يېدو- لفظ په لفظ- مو بهو- حرف په حرف-

ټکى ټکى:(ټه-کى-ټه-کى)صفت- خال خال- داغ داغ- برګ بروګ- برګ ترګ- ټکيالے-

ټکيالے:(ټکيا-لے)اسم صفت- واحد- مذکر- ټکى ټکى- داغ داغ- برګ- ښلے-

ټکيوان:(ټ-کي-وان)اسم- واحد- مذکر- اچه- دوښاخه- د ميوې د ونې د بڼاغ هغه حصه چې ټنې سره لګېدلې وى-

ټکېدل:(ټ-کې-دل)مصدر لازم- (۱)ميده کېدل- وهلے کېدل- قيمه کېدل- (۲)خصى کېدل- (۳)زره سوربدل- کتهربدل-

ټکېدلے:(ټ-کې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ټکېدل-

ټکېدن:(ټ-کې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ټکېدل-

ټکېدنګ:(ټ-کې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ټکېدل-

ټکېدنه:(ټ-کې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ ټکېدل-

ټکېدونکے:(ټ-کې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټکېدل-

ټکېده:(ټ-کې-ده)حاصل مصدر- ماضى استمرارى د واحد غائب صيغه- وګورئ ټکېدل-

ټکى:(ټ-کى)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)ککورے- ټيکى- (۲)لنډى- ټپه- (۳)ايه برق برق خندا- په بکه خلة خندا- (۴)مجموعه کښې د کانى کښېوتو ځاى- کاسه- (۵)که- لرمه-

ټکى:(ټ-کى)اسم- واحد جمع- مؤنث- چرمنګى- کردى- بورله-

ټکى:(ټ-کى)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)کتيه- بخى- (۲)نښانه- ګل ريرى- (۳)د پيزار تلے-

ټکے:(ټه-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)حرف- تورے- (۲)لفظ- (۳)مصرعه- (۴)خال- داغ- ځاڅکے- (۵)مقرر ځاى- (۶)نقطه- (۷)ثبوت- (۸)ذره- (۹)عبرت- جمع ټکى-

ټکے:(ټ-کے)اسم صفت- هغه حاروے چې په تندى ى سپين داغ وى-

ټک:(ټک)اسم صفت- واحد- مذکر- ټکى مار- ټکى زن- غل- چليګر- دوکه باز- چولى- چالاک- مماټ- ږږ- سز- ټټاتي- جمع ټکان-

ټک برګ:(ټک-برګ)اسم صفت- واحد- مذکر- ټکى زن- ټګمار- په زړه کسي غل-

ټکرے:(ټکرے)اسم- واحد- مذکر- ټبکرے- پروپے- چيل-

www pukhto net

ټک ژن:(ټک-ژن)صفت- وګورئ ټک برک-

ټکل:(ټ-کل)مصدر متعدي- دوکه ورکول- ټګی کول- فریب ورکول- چا سره ټګی کول-

ټکلے:(ټ-کۀ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ټکل-

ټکمار:(ټک-مار)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ ټک- مؤنث ټکماره-

ټکماری:(ټک-ما-ری)اسم- واحد- مؤنث- ټګی- مکر- چل- دهوکه- فریب

ټکن:(ټ-کن)اسم صفت- (۱)وګورئ ټک- (۲)حاصل مصدر د ټکل-

ټکنه:(ټ-کۀ-نه)حاصل مصدر- (۱)وګورئ ټکل- (۲- اسم صفت)د ټک مؤنث-

ټکوش:(ټ-کوش)اسم صوت- هغه آواز چې د بادشاه یا د بل کوم لوئ سړی د راتللو په وخت به د هغۀ نوکرانو د دې د پاره کولو چې خلق لرې شي او لار پرېږدي-

ټکونکے:(ټ-کون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټکل-

ټکی:(ټ-کی)اسم- واحد- مؤنث- د ټګ کار او پېشه- چل وته- فریب- دوکه- غولونه- چم- چمبازی- غلا- جمع ټکیانې-

ټکی ټوری:(ټ-کی-ټو-ری)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ټکی- اړت خورت-

ټکی ژن:(ټ-کی-ژن)صفت- وګورئ ټګ برک-

ټکیل:(ټ-کی-یل)مصدر متعدي- وګورئ ټکل-

ټکیده:(ټ-کی-یده-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټکنه-

ټکیدونکے:(ټ-کی-یون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټکونکے-

ټل:(ټل)اسم- ټل- ونکستان-

ټل:(ټل)اسم- واحد- مذکر- (۱)مل- ملګرے- شریک- (۲)کې نصل- کېې وني- (۳)محلت- چم- محله- (۴)قبیله- (۵)باړی- پټے- د کلیوالې زمکې ځلورمه برخه- (۶)د ګلو غنچه- (۷)نژدې والے- نزدیکت- (۸)حد- پوله- (۹)ماتې- شکست-

ټلتوب:(ټل-توب)اسم- واحد- مذکر- ملګرتیا- مرسته-

ټلکے:(ټل-کے)اسم تصغیر- واحد- مذکر- ووړکے ټل- ووړکے پټے- عوړے-

ټلوالي:(ټل-والي)اسم- واحد- مؤنث- ملګرتیا- مرسته- ټله- پره- پله- ملاتړی-

ټلوالے:(ټل-والے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ټلتوب-

ټله:(ټ-له)اسم- واحد- مؤنث- ملګرتیا- پره- پله- ملاتړ-

ټلی:(ټ-لی)اسم- واحد جمع- مؤنث- ټالی- ټالی- ووړکے جرس- ګینګرے- غوره- د ټنګ ټنګ آواز کونکې آله- هغه آله چې د خبرداری د پاره یا خوک رابللو د پاره ټکارولے شي- ګنټی-

ټم:(ټم)اسم صوت- (۱)آواز- د سپې غپا- د سپي غونګار- د سپي آواز- (۲)د دارونکو خناورو غږ- (۳)د دوو شونډو په یو ځای کولو یو مخصوص آواز- (۴)کټه ګونه- (اسم)-

ټماټر:(ټم-ما-ټر)اسم- واحد جمع- مذکر- (۱)ټرماټر- کشمیری- سور باټینګر- رومی- سرۀ بانجان- رومی بانجان- نباتاتی نوم سولانم لانیکو پرسیکم :SOLANUM LYCOPERSICUM- (۲)سوررنګے سرے- سوررنګے-

ټماغه:(ټ-ما-غه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ټماغه- هغه د څرمنې ټوپی چې ساز یا مل ښکاری مارغۀ ته په سرولے شي- (۲)د افسری ټوپی- (افغانستان)-

ټمباره:(ټم-با-ره)اسم- واحد- مؤنث- په چمو چنو ژړا- ښفاری- جمع ټمباری-

ټمباری:(ټم-با-ری)اسم- جمع- مذکر- وګورئ ټمباره-

ټمبر:(ټم-بر)اسم- واحد- مذکر- د آبادی لرګی- ګټه- تنه- (م- انګریزی)-

ټمبکه:(ټم-بۀ-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د بیری تاخ- بیوټ- (۲)کمین- ګګ-

ټمبل:(ټم-بل)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)لټ- ناراسته- بېکاره- (۲)غټ او څرب- پرسپدلے- ناړامه-

ټمبورین:(ټم-بو-رین)اسم- واحد- مذکر- داریال- هغه داریال چې ورسره ګنګروکان لګېدلی وی- (م- انګریزی)-

ټمبوس:(ټم-بوس)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)غټ- څرب- پړسېدلے- (۲)ناړامه- ناراسته- لټ- (۳)کبهو-

ټمبه:(ټم-به)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پړسېدلے- ټومبیا- د بدهضمی له وجې پړسېدلے ګادوے- بند- چې قبض ئې هم وی او اشتها ئې نۀ وی- (۲)ټمبه- د دروازې پټ- (۳)پله- (۴)آرام- ارم- ورومبی معنٰی کښې صفت-

ټمبیل:(ټم-بیل)اسم صفت- واحد- مذکر- ټمبه- ببډه- ببر پړسېدلے-

ټمهر بهر:(ټم-هر-بهر)اسم- واحد- مذکر- (۱)ګرمی- حرارت- (۲)ټبه- تودوالے- (م- انګریزی)-

ټمټم:(ټم-ټم)اسم- واحد- مذکر- ټانګه- بګی- د دوو پایو ګاډے چې چت پرې نۀ وی او په اس یا اسپه راکښے شي-

ټمټمی:(ټم-ټ-می)اسم- واحد- مؤنث- د ووړو پښو یوه مرغۍ چې په اُبو کښې وسی- د ایلی د خاندان یوه مرغۍ-

ټمټېرے:(ټم-ټې-رے)اسم صفت- واحد- مذکر- ټېټے- چیت- د ووړکی قد څښتن- مندرے-

ټمټېل:(ټم-ټېل)اسم- واحد- مذکر- (۱)یو قسم مرغۍ- ګاړے- مؤنث ټمټېله- (۲)کټه ګونه-

ټمټیله:(ټم-ټي-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ټمټېل-

ټمټے:(ټم-ټے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ټیټ- ټیټکے- ټمټېرے- ټونډ- ټوبډ موټه- (۲)اسم- د لنډ لاسکی یوم-

ټمرے:(ټم-رے)اسم صفت- واحد- مذکر- چیت سرے- ټمرکے- چندرکے- مندرے- مؤنث ټمری-

ټمول:(ټ-مول)مصدر متعدي- (۱)غپول- (۲)خوک په عبثو خبرو لګیا کول-

ټمولے:(ټ-مو-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ټمول-

زبر (ح سۀ-ره)، زورکے (شل)، پېښ (مو-کا-ره)، زیر (کۀ-نیاب)، جزم (شکون)، ه (ر-ږه)، ۀ (پو-سي-دۀ)

www.pukhto.net

ټمون:(ټ-م-ون)حاصل مصدر- وګورئ ټمول-
ټمونکے:(ټ-م-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټمول-
ټمونګ:(ټ-م-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ټمول-
ټمونه:(ټ-م-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټمول-
ټمېدل:(ټ-مې-دل)مصدر لازم- (۱)عېبېدل- (۲)فضول غوړېدل- عبث خبرې کول-
ټمېدلے:(ټ-مې-د-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ټمېدل-
ټمېدن:(ټ-مې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ټمېدل-
ټمېدنګ:(ټ-مې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ټمېدل-
ټمېدنه:(ټ-مې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټمېدل-
ټمېدونکے:(ټ-مې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټمېدل-
ټمېدهٔ:(ټ-مې-دهٔ)حاصل مصدر- د ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ ټمېدل-
ټن:(ټن)اسم- واحد- مذکر- د وزن پېمانه چې اتويشت کچه منه يا زر کلو ګرامه وی (م- انګريزی)-
ټناکه:(ټ-نا-که)اسم- واحد- مؤنث- د روپی درېمه برخه- (متروک)-
ټنباره:(ټن-با-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ټمباره-
ټنټه:(ټن-ټه)اسم- واحد- مؤنث- فتنه- شر- فساد- (م- هندی)-
ټنټه:(ټن-ټه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ټانټه-
ټنجه پنجه:(ټن-جه-پن-جه)اسم- واحد- مؤنث- مار نخره- ادا- عمزه- کمبخ مکېز- ارتے پوپے- جمع ټنجې پنجې-
ټنچن:(ټن-چن)فعل امر- اټنشن- پام- تيار شئ- بېدار شئ اد پاکستانی فوځ د قواعدو يوه اصطلاح)-
ټندوره:(ټن-دو-ره)اسم- ژور- کوهے يا سور داسې اَبه لرونکی خايونه چې تل ئې لری وی-
ټنډ:(ټنډ)اسم صفت- ټنډے- يو لاس نه لرونکے-
ټنډ:(ټنډ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)هغه غواګانے چې خصی شوے نه وی- (۲)خُرب- چاغ- شلنډ- (۳)پړسېدلے- ډډ- (۴)مرور- (۵)سخت زړے- بې رحمه- (۶)بدمعاش- (۷- اسم)يو قسم انګور- (۸)کلک- قوی- (۹)قارجن- تپوژن- عصه ناک- (۱۰)خشکی- اوارہ-
ټنډا:(ټن-ډا)اسم- واحد- مؤنث- اجتماع- جمع- جرګه-
ټنډار:(ټن-ډار)صفت- تباه شوې
ټنډان:(ټن-ډان)اسم- جمع- مذکر- قندهار کښې يو قسم انګور- (افغانستان)-
ټنډابه:(ټن-ډا-به)اسم- واحد- مؤنث- اورلګېدے- اورملک-
ټنډتوت:(ټنډ-توت)اسم- واحد- مذکر- (۱)ټنډوالے- پېړوالے- عېوالے- (۲)بدماشی- ټنډتيا- نفس پرستی- (افغانستان)-
ټنډتوت:(ټنډ-توت)اسم- واحد- مذکر- يو قسم توت چې په قندهار کښې پېدا کېږی- (افغانستان)-
ټنډتيا:(ټنډ-تيا)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ټنډتوب-
ټنډر:(ټن-ډر)اسم- واحد- مذکر- د ټيکې د نرخ پېشکش- (م- انګريزی)-
ټنډر:(ټن-ډر)اسم- واحد- مذکر- کنډر- وران ويجاړ- شاړ- غېر آباد- لوګ- (افغانستان)-
ټنډس:(ټنډ-س)اسم صفت- چاغ- چاق- پنډ- غټ پټ- تکړه تيار-
ټنډغرکے:(ټنډ-غر-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه سرے چې ګېډه ئې د پړسوب له کبله ډېر ته راوتې وی- (۲)وګورئ ټنډ-
ټنډغمه:(ټنډ-غو-مه)اسم- واحد- مؤنث- هغه خره چې وار ئې راوړے وی-
ټنډکی:(ټنډ-کی)اسم- واحد- مؤنث- وړه لښته- لښتکی- چوکه- (افغانستان)-
ټنډکے:(ټن-ډ-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- غټ مټ- ګردے- د ورکی قد خاوند چې ګېډه ئې پړسېدلې وی-
ټنډل:(ټن-ډل)مصدر متعدی- کلکول- سختول- مضبوطول- قوی کول-
ټنډلے:(ټن-ډ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ټنډل-
ټنډن:(ټن-ډن)حاصل مصدر- وګورئ ټنډل-
ټنډنه:(ټن-ډ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټنډل-
ټنډو:(ټن-ډو)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)غټه ګېډه لرونکے- پړسېدلے- (۲)ګېډور- ګېډور-
ټنډوالے:(ټنډ-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- (۱)پړسېدن تيا- خُربېدن- (۲)نيغ توب- کلانکاری-
ټنډور:(ټن-ډور)اسم- واحد- مذکر- (۱)په يو خاص قسم د چلغوزو په تودو تکو کښې وريتونه- (۲)انبار- امبار- ډلی- (۳)شور زوږ- ويړ- غوغا- (۴)قتل عام- (۵)کډه کرده-
ټنډورول:(ټن-ډو-رول)مصدر متعدی- (۱)په بټ کښې وريتول- نيتې کول- (۲)ډلی کول- کوټه کول- امبارول-
ټنډورولے:(ټن-ډو-رو-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ټنډورول-
ټنډورون:(ټن-ډو-رون)حاصل مصدر- وګورئ ټنډورول-
ټنډورونکے:(ټن-ډو-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټنډورول-
ټنډورونه:(ټن-ډو-رو-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټنډورول-
ټنډورېدل:(ټن-ډو-رې-دل)مصدر لازم- (۱)ورتېدل- نيتې کېدل- د چېو يا چلغوزو نيتې کېدل- (۲)امبارېدل- ډلی کېدل- کوټه کېدل-
ټنډورېدلے:(ټن-ډو-رې-د-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ټنډورېدل-
ټنډورېدن:(ټن-ډو-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ټنډورېدل-
ټنډورېدنګ:(ټن-ډو-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ټنډورېدل-
ټنډورېدنه:(ټن-ډو-رې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټنډورېدل-
ټنډورېدونکے:(ټن-ډو-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټنډورېدل-

www.pukhto.net

ټنهوربدۀ:(ټن-ه-ري-دۀ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ ټنهورېدل-

ټنهول:(ټن-ه-ول)مصدرِ متعدی- (۱)پرسول- پکول- پړول- (۲)زنا کول- په ناجائزه طريقه بلاربول-

ټنهولے:(ټن-ه-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ټنهول-

ټنهون (ټن-ه-ون)حاصل مصدر- وګورئ ټنهول-

ټنهونکے (ټن-هون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټنهول-

ټنهونکے (ټن-ه-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټنهول-

ټنهونګ:(ټن-ه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ټنهول-

ټنهونه:(ټن-ه-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټنهول-

ټنهويک:(ټنه-ويک)اسم- واحد- مذکر- کاږبوزے- کاږبوزے- د کښې کښې او د مسواکې کښې تر مېنځه فاصله- (افغانستان)-

ټنهه:(ټن-هه)اسم- واحد- مؤنث- وچولے- تندے-

ټنهه:(ټن-هه)اسم صفت- واحد- مؤنث- ښځه- (م- هندی)-

ټنهه:(ټن-هه)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم سبزی- نباتاتی نوم د کوکر بيتا لېجينريا (CUCURBITA LANGENARIA) د خاندان يوه سبزی-

ټنهه:(ټن-هه)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)د ټنهو مؤنث- (۲)بلاربه- پړه- پړسېدلې- بلاربه ښځه- زناکاره ښځه-

ټنهه خره:(ټن-ه-خره)اسم- واحد- مؤنث- رنده خره- د ماشومانو يو قسم لوبه-

ټنهه غالبوزه:(ټن-ه-غال-بو-زه)اسم- واحد- مؤنث- سره مچۍ- سره بمبره- ږمبره-

ټنهېدل:(ټن-هې-دل)مصدرِ لازم- (۱)بلاربېدل- حامله کېدل- پکېدل- پړېدل- پړسېدل- اميدواره کېدل- (۲)مرورېدل- وګورئ ټنه ۲-

ټنهېدن:(ټن-هې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ټنهېدل-

ټنهېدنګ:(ټن-هې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ټنهېدل-

ټنهېدنه:(ټن-هې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ ټنهېدل-

ټنهېدونکے:(ټن-هې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټنهېدل-

ټنهېدۀ:(ټن-هې-دۀ)حاصل مصدر- د ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ ټنهېدل-

ټنهېل:(ټن-هېل)اسم- واحد- مذکر- (۱)سرنګ- غار- تونل- (۲)د ټليانو مشر يا افسر- (م- انګريزی)-

ټنهی:(ټن-هی)اسم- واحد جمع- مؤنث- لښته- چوکه- کونټې- ارمګے- چيکه-

ټنهے (ټن-هے)اسم صفت- ټنه- چې يو لاس يې پرېکړے شوے وی-

ټنګ:(ټنګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)دروګه- دبدبه- رعب- آوازه- (۲)پېرق- ځېږه-

ټنګ:(ټنګ)اسم صفت- واحد- مذکر- کلک- سخت-

ټنګ:(ټنګ)اسم صوت- واحد- مذکر- (۱)د ترنګ اواز- د څۀ څيز د ټنګولو آواز- د ساز آواز- (۲)د بدن نه د مقعد په لار د بادو د خارجېدو آواز-

ټنګا (ټنګ-کا)اسم صوت- ټنکار- د ځيرونو د جنګېدو پرله پسې آواز-

ټنګار (ټنګ-کار)اسم صوت- وګورئ ټنګا-

ټنګاره:(ټنګ-کاره)اسم- واحد- مؤنث- ټوکاره- سکونډاره- چونګاره- جمع ټنګاری-

ټنګ ټکور (ټنګ-ټ-کور)اسم- واحد- مذکر- د موسيقۍ محفل- سرود- مجلس- ساز آواز-

ټنګټنګے:(ټنګ-ټنګ-کے)اسم تصغير- ځنځنے- د ماشومانو د لوبو يو ټنګ ټنګ کونکې آله- د سائېکل ټلی-

ټنګ ټونګ:(ټنګ-ټونګ)اسم صوت- (۱)د سازونو آواز- موسيقی- (۲)د خنو لوښو د يو بل سره د جنګېدلو آواز-

ټنګره:(ټنګ-ره)اسم- واحد- مؤنث- ترازه- پړه- پکره- قتله- دړه- ټنګی- ټنګری- جمع ټنګری-

ټنګری:(ټنګ-ری)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ ټنګره-

ټنګسال (ټنګ-سال)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ټکسال-

ټنګسال:(ټنګ-سال)اسم- واحد- مذکر- انتهائی نایاب-

ټنګول:(ټنګ-ګول)مصدر متعدی- (۱)د ساز آواز ايستل- د ټنګ ټنګ آواز ايستل- ترنګول- (۲)د خنو لوښو يو بل سره جنګول- (۳)لۀ چا نه راز معلومول- لۀ چا نه خبری ايستل- (۴)آزمائيل- (۵)وهل-

ټنګولے:(ټنګ-ګو-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ټنګول-

ټنګون (ټنګ-ګون)حاصل مصدر- وګورئ ټنګول-

ټنګونکے:(ټنګ-ګ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټنګول-

ټنګونګ (ټنګ-ګ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ټنګول-

ټنګونه:(ټنګ-ګ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ ټنګول-

ټنګه (ټنګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- روپۍ- پېسه- جمع ټنګې- (م- فارسی)-

ټنګه:(ټنګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د يوې زړې سکې نوم- (۲)ټکه- د دوو پېسو غټه سکه-

ټنګه ټنه:(ټنګ-ګه-ټن-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د ټنګ ټکور د پاره کلمه تحقير- ټنګ ټوت- (۲)سرونه سورونه- د ټنګ ټکور نه وړاندې د موسيقۍ آلې ټيک کول- (۳)ووړکی کارونه- معمولی سودا-

ټنګه پته:(ټنګ-ګه-پته)متعلق فعل- پنګه پته- پېل- ځنډ- تاخير- نکره نکره کول- ايسارتيا- توقف- عذر- دليل- انه بانه- پرېشانی-

ټنګه سرے:(ټنګ-ګه-سرے)اسم صفت- وګورئ ټکه سرے-

ټنګهار:(ټنګ-هار)اسم صوت- وګورئ ټنګا-

ټنګېدل:(ټنګ-ګې-دل)مصدرِ لازم- ترنګېدل- (۱)د ساز د الاتو نه آواز وتل- (۲)د لوښيو خپلو کښې يو تر بله جنګېدل- (۳)ګرېال غوېدل-

ټنګېدلے:(ټنګ-ګې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ټنګېدل-

ټنګېدن:(ټنګ-ګې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ټنګېدل-

ټنګېدنګ:(ټنګ-ګې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ټنګېدل-

ټنګېدنه:(ټنګ-ګې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټنګېدل-

ټنګېدونکے:(ټنګ-ګې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټنګېدل-

ټنګېده:(ټنګ-ګې-ده)حاصل مصدر- د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ ټنګېدل-

ټنګي:(ټنګ-ګي)اسم- مؤنث- وګورئ ټنګره-

ټنګي:(ټن-ګي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ټاپچي-

ټنګے:(ټنګ-ګے)اسم صوت- ټنګ- ټنګار- ټنګا-

ټنن:(ټَ-نَن)اسم صفت- (۱)ورن- ټرن- ويربدونکے- يربدونکے- (۲)دروغژن-

ټنوبدل:(ټن-وې-دل)مصدر لازم- کوښېدل- ټمبدل- غېږدل-

ټنوبدلے:(ټن-وې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ټنوبدل-

ټنوبدن:(ټن-وې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ټنوبدل-

ټنوبدنګ:(ټن-وې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ ټنوبدل-

ټنوبدنه:(ټن-وې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټنوبدل-

ټنوبدونکے:(ټن-وې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټنوبدل-

ټنوبده:(ټن-وې-ده)حاصل مصدر- د ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ ټنوبدل-

ټنه کار:(ټَ-نه-کار)اسم- واحد- مذکر- يو کيمياۍ توکے- ټنکار- نوشادر- امونيم کلورائيډ-

ټوا:(ټَ-وا)اسم- کل شوے سر- کټ سر- په ماکي کل شوے سر-

ټوبخے:(ټو-بَه-خے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ شګو ډېرے- دَ شګو ټوبکے- (۲)غار- سوړه- سورے- (۳)قتے- کتی- کنده- کندرے- ږغل- ټوبکے- سوړه-

ټوبکے:(ټو-بَه-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ټوبخے-

ټوبه:(ټو-به)اسم- واحد- مؤنث- جبه- زوره زمکه- تالاؤ- وسته- ونږه زمکه- (م- هندي)-

ټوبے:(ټو-بے)اسم- واحد- مذکر- د شګو هغه غونډۍ چې سر ئې شين وي- (افغانستان)-

ټوپ:(ټوپ)اسم- واحد- مذکر- (۱)ټرتاز- ورټ- جست- دانګ- دانګه- ځېز- (۲)ډېرے- انبار-دلی- (۳)لويه ټوپۍ- (۴)د ربېلی شوی فصل دلی-

ټوپ:(ټوپ)اسم- واحد- مذکر- ټاپے نښته- مقرر وخت- ټاکلے وخت- (افغانستان)-

ټوپ:(ټوپ)اسم- واحد- مذکر- ټيوب- د ربړ هغه پسته غونډی کولمه چې په ټائر کښې دننه اچولے او له بادو نه ډکولے شي- (م- انګريزي)-

ټوپازن:(ټو-پا-زن)اسم- واحد- مذکر- سپېرکنه- کوپله- يوه مرغی چې له چرچنې لويه وي او په سری ئې ځنډے وي-

ټوپال:(ټو-پال)اسم- واحد- مذکر- چوپال- حاله- منځوله- ځاله-

ټوپ ټپانے:(ټوپ-ټَ-پا-نے)اسم- واحد- مذکر- دَ مېږي يا ټوپونو مقابله-

ټوپخن:(ټوپ-خن)اسم- واحد- مذکر- دَ خاورو ډېرے يا غونډی- وګورئ ټوبخے-

ټوپزن:(ټوپ-زن)اسم صفت- ټوپ کوونکے- ټوپ وهونکے- ټوپ زن- ټوپی- ټوپ مار-

ټوپک:(ټو-پک)اسم- واحد- مذکر- تفنګ- ټوپک- يو آتشينه وسله چې کالسوس پکښې اېښودے شي او بوزې پرې کولے شي- رائفل- جمع ټوپکي ټوپکونه- (م- فارسي)-

ټوپک ليچ:(ټو-پک-ليچ)اسم- واحد- مذکر- هغه لرګے چې دَ ټوپک دَ شپېلی لاندی لګېدلے وي- (افغانستان)-

ټوپکي:(ټو-پَ-کي)اسم- جمع- مذکر- دَ ټوپک جمع- (۲)غوږدانکي- وارهٔ وارهٔ ټوپونه-

ټوپکۍ:(ټوپ-کۍ)اسم- مؤنث- د کاربز پټه برخه- (افغانستان)-

ټوپکے:(ټوپ-کے)اسم تصغير- وړوکے ټوپ-

ټوپل ۱:(ټو-پل)اسم- واحد- مذکر- (۱)شمله- څوکه- کرکره- (۲)دَ تاج طره (جوغه)- (۳)څوکه- سر- (۴)ټوپی-

ټوپل ۲:(ټو-پل)مصدر متعدي- (۱)خاورې غونډی کول- خاورې ډېرے کول- (۲)دنګل- ټوپ وهل- (افغانستان)-

ټوپلس:(ټوپ-لس)اسم- واحد- مذکر- د چيندرو د لوبې پينځم کور-

ټوپ لندے:(ټوپ-لن-دے)اسم- واحد- مذکر- هغه ځای چې ټوپ ترې وهلے شي-

ټوپلول:(ټوپ-ل-ول)مصدر متعدي- دنګول- ټوپ ورکول- ځهٔ ځيز په بېړه لرې کول-

ټوپلولے:(ټوپ-ل-وَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ټوپلول-

ټوپلون:(ټوپ-ل-ون)حاصل مصدر- وګورئ ټوپلول-

ټوپلونکے:(ټوپ-ل-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټوپلول-

ټوپلونګ:(ټوپ-ل-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ټوپلول-

ټوپلونه:(ټوپ-ل-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټوپلول-

ټوپلے:(ټو-پ-لے)اسم- واحد- مذکر- د خاورو ډېرے-

ټوپلے:(ټو-پَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ټوپل-

ټوپ مار:(ټوپ-مار)اسم صفت- ټوپ وهونکے- ټوپ زن- ورټونکے-

ټوپن:(ټو-پن)اسم- واحد- مذکر- دنيا- نړۍ- جهان- (افغانستان)-

ټوپن:(ټو-پن)حاصل مصدر- وګورئ ټوپل- (مصدر)-

ټوپنانے:(ټوپ-نا-نے)اسم صفت- مسافر- پردسی- جلاوطن-

ټوپنګ:(ټو-پنګ)حاصل مصدر- وګورئ ټوپل-

ټوپنګرځے:(ټو-پن-ګر-ځے)اسم صفت- سېلانے- سېل کوونکے- سياح- (افغانستان)-

ټوپنه:(ټو-پَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ټوپل-

ئ: (ئې-رل) ، ي (مې-رمول) ، ی (پيا-لی) ، ے (تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

ټوپنے:(ټو-پهٔ-نے)اسم- واحد- مذکر- د ماشومانو يوه لوبه- (افغانستان)-

ټوپنے:(ټو-پهٔ-نے)اسم صفت- سېلانے- سېل کونکے- سياح-

ټوپونکے:(ټو-پ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ټوپل-

ټوپه:(ټو-په)اسم- واحد- مؤنث- دوه دری- د اټو سېرو پيمانه-

ټوپه:(ټو-په)اسم- واحد- مؤنث- معجزه- عجيب- عجيبه- حيرانونکے- کرامت-

ټوپی:(ټو-پی)اسم صفت- (۱)هوښيار- چالاک- شاطر- (۲)اردلی-

ټوپی:(ټو-پی)اسم صفت- ټوپ وهونکے- تېز- چالاک- ټوپ زن-

ټوپی ټخ:(ټو-پی-ټخ)اسم صفت- کلاکار- تخرې باز-

ټوپی ټق:(ټو-پی-ټق)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه سړے چې ټوپی جوړوی- (۲)ټېکر- دېوال ګير-

ټوپی:(ټو-پی)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)ټولی- خوله- (۲)د غوۀ غټوی- (۳)د چلم سر چې څښونکے خېز پکښې اچولے شی- (۴)يو قسم لوبه- (۵)ټېرے- امبار- کوټه- (۶)پټاکی- پټاقی- (۷)وېران-

ټوپی ګل:(ټو-پی-ګل)اسم- واحد- مذکر- يو قسم دارو- د پابونې ګل- ګل سابونه- مروری- مروری-

ټوټار:(ټو-ټار)اسم- واحد- مذکر- ټوکنا- ټوکه- قيمه کش-

ټوټانکه:(ټو-ټانک-که)اسم- ټوټياله- پياله- ټوټانکے-

ټوټانکے:(ټو-ټانک-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ټوټانکه-

ټوټکه:(ټوټ-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ټوټه- کوټه- (۲)د مجرغنې غلے- پټق- پټاق- کاسی- (۳)هغه علاج چې د تجربې په بنا کولے شی- (۴)هغه والی چې ناوی کره ورلے شی- (۵)دستور- رسم- (د ښاره د مرض)- (۶)ترټری- شرشری- چرچری- حرجری- د آتش بازی يو قسم-

ټوټکه چی:(ټوټ-که-چی)اسم صفت- وګورئ ټوټکه مار-

ټوټکه مار:(ټوټ-که-مار)اسم صفت- ټوټکې کونکے- ټوټه مار- ټوټکه چی-

ټوټکی:(ټوټ-کی)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)د کونډی سترګه- د زنګانه سترګه- (۲)د کناټی مېروکے- (۳)د لرګی کاسه- (۴)ټوټی-

ټوټکے:(ټوټ-کے)اسم- واحد- مذکر- ټوټے- د کناټی مېروکے- ساعرے- جمع ټوټکی-

ټوټکے:(ټو-ټ-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- بورے- چيت پيت- چن ړن-

ټوټل:(ټو-ټل)اسم- واحد- مذکر- جمع- ميزان- ټوټل- (م- انګريزی)-

ټوټنکے:(ټو-ټن-کے)اسم- واحد- مذکر- ټوټنکے- ټورلے- پترکے- بوره-

ټوټه:(ټو-ټه)اسم- واحد- مذکر- (۱)ترازه- برخه- حصه- ټکړه- تيکه- ټول- کبړ-پسه- ګکالے- (۲)ټوکے- رحت- کبړه- (۳)پښه- (۴)پياله- ګلاس- جام- (۵)پيوند- (۶)سرنا-

ټوټه ټوټه:(ټو-ټه-ټو-ټه)اسم صفت- واحد- مؤنث- ټوکره ټوکره- نس نس- ترمې ترمې- ذره ذره- رېجې رېجې- پوزګې پوزګې- جمع ټوټی ټوټی-

ټوټی:(ټو-ټی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)صفت- ستائينه- (۲)غندنه- بد ونيه-

(افغانستان)-

ټوټی پل:(ټو-ټی-پل)اسم- واحد- مذکر- د پېری نه جوړ تال- خانګو-

ټوټياله:(ټوټ-يا-له)اسم- واحد- مؤنث- ټوټانکه- پياله-

ټوټيالی:(ټوټ-يا-لی)اسم- واحد جمع- مؤنث- کټوول- جام- پيمانه- د شرابو څښلو لوښے- وړه پيالی چې قهوه پکښې څښلے شی-

ټوټېل:(ټو-ټېل)اسم- واحد- مذکر- ټيټارے- ټيغکه- يوه مرغی-

جاسوسی:(جا-سو-سی)اسم- مؤنث- د جاسوس سره متعلق- مخبری- مقبری- پټ حال معلومونه- د جاسوس پېشه- (مصدرونه کول/کېدل)-

جاغور:(جا-غور)اسم- واحد- مذکر- (۱)ججوره- (۲)یو مرض چې په مری کښې غټه جوړ شی-(م- فارسی)-

جاغورے:(جا-غو-رے)اسم صفت- واحد- مذکر- مشروټ ملک- پخنے ملک-

جاغه:(جا-غه)اسم- واحد- مؤنث- د قمیص غاړه- ګرېوان-

جاکټ:(جا-کټ)اسم- واحد- مذکر- واسکټ- نیم تنے- جېکټ- جاټکټ- (م- انګریزی)-

جاکړ:(جا-کړ)اسم-واحد- مذکر- جکړ- طوفان او باران- جم جکړ- ځول- (م- هندی)-

جاکے:(جا-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- یخ شوے- موره شوے- مایه شوے- پړن- پړن- کنګل شوے- چکه شوے-

جاګنے:(جاګ-نے)اسم- واحد- مذکر- په غوبل کښې دننه غوښے- د ګوارې هغه ړنګر چې د تپولو نه ورانده ځی-

جاګیر:(جا-ګیر)اسم- واحد- مذکر- (۱)ټوټر- سېری- زمکه- دمتر- جائېداد(۲)هغه زرعی جائېداد چې د بادشاهانو یا د حکومت له خوا د وفاداری په انعام کښې ورکولے شی- جمع جاګیرونه- (ش- فارسی)-

جاګیردار:(جا-ګیر-دار)اسم صفت واحد- مذکر- د جاګیر خاوند- د زمکو خاوند- زمیندار- هغه سړے چې د بادشاه یا حکومت له طرفه ورکړے شوې زمکه خوری - (ش- فارسی)-

جال:(جال)اسم- واحد- مذکر- (۱)دام- لومه- (۲)دستور- (۳)مکر- فریب- (۴)د کږو بېزو ځلانځو ته اچونکې بوجګۍ چې د بچیو د رودلو نه پرې ساتلے شی-(وروستی معنی ش- فارسی)-

جال بجال:(جال-بن-جال)اسم صفت- الوول- غټي غټي- جاځه شوے - جانجوخله - ګنجلک-

جال جولکی:(جال-جول-کی)اسم- جمع- مذکر- هغه تارونه او جالونه چې جولاګې اودلې وی-

جالر:(جا-لر)اسم- واحد- مذکر- (۱)ځنبرے- تار- جومر- جمکی- یو پسول- (۲)حاشیه- کناره- (۳)هغه کپړه چې جال لری او عام طور سره د زنانو قمیصونو او د کټ ګدورونو وغېره سره د زینت د پاره لګولے شی-

جالکی:(جا-ل-کی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- پنجره- وړوکے جال-

جالکے:(جا-ل-کے)اسم- روبند- (۱)برقع(بورقه) کښې د سترګو د پاره جوړ شوے جال- (۲) وړوکے جال- (۳)د جولاګی اودلے جال-

جالوان:(جا-ل-وان)اسم- واحد- مذکر- (۱)د جالې مالک - (۲)د جالې چلونکے- (۳)هغه سړے چې لویو لویو کارونو ته لاس اچوی- (صفت)-

جالوغ:(جا-لوغ)اسم- واحد- مذکر- هغه لمڅے چې د آس د زین د لاندې اچولے شی-

جالول:(جا-ل-ول)مصدر متعدی- مشهورول- رواج ورکول-

جالولے:(جا-ل-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ جالول-

جالون:(جا-ل-ون)حاصل مصدر- وګورئ جالول-

جالونکے:(جا-ل-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ جالول-

جاله:(جا-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د مشکونو یا شنازونه جوړه کشتی- په سیند د پورې وتو د پاره د لرګو جوړه کشتی چې لاندې ترې شنازونه تړلی وی- (۲)په غوبل کښې په غوایانو پسې لګېدلې دپښو جاځه- (۳)د ربړ د لرګیو د وړلو د پاره له لرګیو نه جوړه سورلی- (جمع جالې)-

www.pukhto.net

جاله:(جا-له)اسم- واحد- مونث- (۱)د مارغانو د ناستې او مچو راوړو ځايّ- خاله- منځوله- منجاله- منځاله-(۲)نېستي- خواري- غريبي- (۳)د سترګو پرده يا جاجه-

جاله پوب:(جا-له-پوب)اسم صفت- جنجالي سړے- وران کاړے- هغه سړے چې په څهٔ پروا نهٔ لري - بې پروا- بې غمه-

جالي:(جا-لي)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ جالوان-

جالېدل:(جا-لې-دل)مصدر لازم- مشهورېدل- رواج مونډل-

جالېدن:(جا-لې-دن)حاصل مصدر- وګورئ جالېدل-

جالېدنګ:(جا-لې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ جالېدل-

جالېدنه:(جا-لې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ جالېدل-

جالېدونکے:(جا-لې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ جالېدل-

جالېدهٔ:(جا-لې-دهٔ)حاصل مصدر- د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ جالېدل-

جالي:(جا-لي)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)هغه نرۍ کپړه چې دروسو يا کړکيو ته لګي-(۲)د وسپنې له تارونو جوړ جاله- چاڼ ګانړ- (۳)د ولاړو ابو شنې جاجې- (۴)جينجره کپړه- (م- هندي)-

جام:(جام)اسم- واحد- مذکر- د مموی او شيرې نه جوړه مربه- ام- انګريزي)-

جام:(جام)اسم- واحد- مذکر- کنډول- کټوري- پياله- پيمانه- ګاسه- ګلاس- د ګېنلو لوښے- جسے- جرمنے- (م- فارسي)-

جامباز:(جام-باز)اسم صفت- واحد- مذکر- ناړامه- دٔ خپلې رضا خاوند-

جامساز:(جام-باز)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه اوښ چې سورلي پرې نهٔ شي کولے- مست اوښ- ناباري اوښ- سرکش اوښ-

جامبره:(جام-به-ره)اسم- واحد- مؤنث- بيره- دٔ بېرې ونه-

جامبړه:(جام-بهٔ-ړه)اسم- واحد- مونث- جاځه- جاړه- هغه جاړه چې څانګې ې يو بل کښې ننوتې وي-

جام جم:(جام-جم)اسم- واحد- مذکر- دٔ يو مشهور باچا دٔ جام نوم چې د قبصې مطابق به پکښې د ټولې دنيا عکس ښکارېدهٔ- د جمشېد بادشاه جام-

جامد:(جا-مد)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)کلک - سخت- ټينګ- (۲)هغه کلمه چې اشتقاق ترې نهٔ کيږي- (م- عربي)-

جامدار:(جام-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- د توشه خانې محافظ او نګران- د جامو د کوټې تحويلدار-

جامداني:(جام-داني)اسم- واحد جمع- مؤنث يو قسم ململ چې بوټي وي پرې او زنانه ترې لوپټې جوړوي- جمه داني- (م- هندي)-

جامع:(جا-مع)اسم- واحد- مذکر- (۱)مکمل- پوره- (۲)يو ځاې کونکے-(۳)جامه- لوئ جمات- (۴)مجموعه- (۵)دٔ خدایٔ تعالیٰ يو صفاتي نوم-

جامع الحروف:(جا-م-عل-ح-روف)اسم- د شاعرۍ په صنعت کښې يو شعر چې پکښې د ېتې ټول حروف راوړلے شي-

جامع جمات:(جا-مع-جو-مات)اسم- واحد- مذکر- لوئ جمات- هغه جمات چې دٔ اختر او دٔ جمې مونځ پکښې کيږي- دٔ جمې جمات-

جامعه:(جا-م-عه)اسم- واحد- مونث- (۱)يونيورسټي- (۲)ټولنه- (۳)دارلعلوم- (۴)جامه- هغه جمات چې د جمې نمونځونه پکښې کيږي-

جامعيت:(جا-مع-يت)اسم- جامع والے- پوره والے-

جامکے:(جام-کے)اسم- واحد- مذکر- لنډ پتلون- جانګے-

جامکوړے:(جام-کو-ړے)اسم تصغير- واحد- مذکر- وګورئ جامکے-

جامکے:(جام-کے)اسم تصغير- واحد- مذکر- وړکوټے جام- جامکوټے- کټورے-

جامن:(جا-من)اسم- واحد- مذکر- يوه ونه او د هغې ميوه چې اودې رنګ لري - نباتاتي نوم سي زي جم جامبولے نم يا يوجينيا جامبولېنا -SYZYGIUM JAMBOLANUM, EUGENIA JAMBOLANA

جامن:(جا-من)اسم- واحد- مذکر- د ګېډونکو تنګ تميص-

جامنو:(جام-نو)اسم- جامن- دٔ نباتاتي نوم دٔ پاره وګورئ جامن ۱-

جامه:(جا-مه)اسم- واحد- مؤنث- پوشاک- لباس- کالي- کپړه- لته- جوړه-

جامه جوړه:(جا-مه-جو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- د ناوې د جهيز سامان-

جامه دار:(جا-مه-دار)اسم صفت - درزي- جامې جوړونکے-

جامه زېب:(جا-مه-زېب)اسم صفت- ښائسته لباس اغستونکے- هغه څوک چې ورته جامه پرې ښائسته ښکاري- (م- فارسي)-

جامې:(جا-مې)اسم- جمع- مؤنث- (۱)تمرې-(۲)د زنانو دٔ مياشتې خاصه موده- د زنانو په خاصه موده کښې حيض جاري کېدنه-

جان:(جان)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ډېر خوږ- ډېر نږدې- دٔمينې کلمه- زړهٔ ته نږدې- (۲- اسم)ځان-

جانا:(جا-نا)اسم صفت- واحد- مذکر- د جان د پاره د ندا کلمه-

جانان:(جا-نان)اسم- واحد- مذکر- (۱)محبوب- معشوق- دلبر- جان- جانا-(۲)محبوبه-

جانانه:(جا-نا-نه)اسم صفت- واحد- مذکر مؤنث- (۱)ياربانٹ- خوږ يا دٔ ښهٔ خوئ خسن يا مينه ناک- (۲)محبوبه- (۳)معشوقه- (۴)ښائسته-

جانب:(جا-نب)اسم- واحد- مذکر- (۱)طرف- سمت- خوا- اړخ- پوه- (۲)پله- فريق- (۳)سمه- زجه- جمع جانبين-

جانباز:(جان-باز)اسم صفت- واحد- مذکر- ځان ځاروونکے- بهادر- توريالے- مجاهد- سربندونکے- (م- فارسي)-

جانبازي:(جان-با-زي)اسم- واحد- مونث- (۱)سر دار کونه- (۲)همت او کوشش کونه- (۳)بهادري کونه- (م- فارسي)-

جانبدار:(جا-نب-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- طرفدار- ملګرے- مددګار- مرستدال-

www.pukhto.net

جانبداري:(جا-نب-دا-ري)اسم- واحد- مؤنث- ملګرتيا- طرفداري- مرسته- (م- فارسي)-

جانبين:(جا-ن-بين)اسم- مذکر- تثبيه- د جانب تثنيه- دواړه خواه- دوه جانبه- دواړه اړخه- دوه طرفه-

جان جان:(جان-جان،کلمه- (۱)د زارۍ کلمه- چا ته د منت په وخت کښې ادا کېدونکې کلمه- (۲)د رياتي مينې له وخې معشوق يا ماشومانو ته وئيلې شي -(۳)د خوشحالۍ او انبساط کلمه-

جانجن:(جان-جن)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه ونه چې ميوه يې رنګي وي-

جانجن:(جان-جن)اسم- واحد- مذکر- جينجړ- د يو بوټي نامه چې عام طور سره د پټو نه ګېرچاپېره کرلې شي او د سرخولو د پاره پکارولې شي-

جانجو:(جان-جو)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ناراسته- نارامه- جانجي- (۲)لېونې- ديوانه- مجذوب- مذوب- لټ- دې لفظ سره اکثر پانجو وئيلې شي- لکه جانجو پانجو- د بېکاره په معنو کښې استعماليږي-

جانجو پانجو:(جان-جو-پان-جو)صفت- واحد- مذکر- سست پست- بېکاره- بې خوده- بې شې-

جانجو پانجو:(جان-جو-پان-جو)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ جانجو پانجو-

جانجوخله:(جان-جو-خله)اسم صفت- تاز راتاز- کنجلک- الورل- الوربل- هغه خبره چې هېڅ موزابېدې نه شي-

جانجي:(جان-جي)اسم صفت- (۱)ړکالي- سستي- (۲)جانجو-

جانجي:(جان-جي)اسم- واحد- مذکر- (۱)جمجي- جنج يا ورا ته بللې شوې- د ملک له لوري وادۀ ته بللې شوې- (۲)وګورئ جانجو- (۳)صفت- چغزي - نرم- نازک- کاغذي- ژر ماتېدونکې-

جانجيتوب:(جان-جي-توب)اسم- واحد- مذکر- (۱)سستي- ناراستي- (۲)په ورا کښې شاملېدنه- وراباني کېدنه-

جانجېدل:(جان-جي-دل)مصدر لازم- سستېدل- بېکاره کېدل- ناراسته کېدل- لټ کېدل-

جانجېدن:(جان-جي-دن)حاصل مصدر- وګورئ جانجېدل-

جانجېدنګ:(جان-جي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ جانجېدل-

جانجېدنه:(جان-جي-دنه)حاصل مصدر- وګورئ جانجېدل-

جانجېدۀ:(جان-جي-دۀ)حاصل مصدر- د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ جانجېدل-

جانجې:(جان-جې)اسم صفت- وګورئ جانجو-

جان خانې:(جان-خا-نې)اسم- واحد- مذکر- ترنګښ- سوده- کورې- کمبو- د بوسو وړلو کورې- شليته-

جاندار:(جان-دار)اسم- واحد- مذکر- تکړه- مضبوط- تندرست- صحت مند-

جاندم:(جان-دم)اسم- واحد- مذکر- دوزخ- جهنم- جمع جاندمونه-

جارجي (م- عربي)-

جان ديده:(جان-دي-ده)اسم صفت- جان کښته- ګرځېدلې سړې-

جانستاني:(جان-س-تا-ني)اسم- ساه په زور اخستنه- روح وړنه- وژنه- (م- فارسي)-

جانشين:(جا-ن-شين)اسم صفت- قائم مقام- د چا په ځای ناست- (م- فارسي)-

جان فشان:(جان-ف-شان)اسم صفت- ځان شيندونکې- جانفشانی کونکې-

جان فشاني:(جان-ف-شا-ني)اسم- مؤنث- همت- بهادري- کوشش- (اصل معنی ځان شيندنه)(م- فارسي)-

جانقه:(جان-قه)اسم- واحد- مؤنث- کوسه- په ديګه يا په لنتو وهنه- ګوزار وركونه-

جانکټ:(جان-کټ)اسم- واحد- مذکر- جاکټ- جيکټ- د لستونو واسکټ-

جانکټ:(جان-کټ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ جاکټ- (م- انګريزي)-

جان کټې:(جان-کټې)اسم- واحد- مذکر- (۱)د جېلخانې هغه ملازم چې په قېديانو کار کوي- (۲)صفت- جان نثار- (۳)د غرغرې د تختې راکښونکې-

جان ګداز:(جان-ګ-داز)اسم صفت- مذکر- پسخاکي - ځان ويلې کونکې-

جانګړي:(جانګ-ړي)اسم صفت- واحد جمع- مؤنث- جولنګۍ- هغه کټ چې پپاړمې يې سستې وي او ندی په وجه جولې وي-

جانګۍ:(جانګ-ګۍ)اسم- واحد جمع- مؤنث- د يوې هغه عمودي لرګې چې موټې او کنده سره يو ځای کوي-

جانګې:(جانګ-ګې)اسم- واحد- مذکر- نېکر- کچه- کاچه- وړوکې پوشاک چې د لوبو يا لامبلو په وخت اچولې شي-

جانماز:(جا-ن-ماز)اسم- واحد- مذکر- د مصلې په رنګ د کپړې جوړ چادر چې مونځ پرې کولې شي- جای نماز- (م- فارسي)-

جان من:(جا-ن-من)اسم مرکب- زما ځانه- معشوقې يا محبوب ته وئيلې شي- (شاعري)(م- فارسي)-

جاننثار:(جان-ن-ثار)اسم صفت- مذکر- جانباز- سرتېرې- ځان ځارونکې- ځان قربانونکې- سر شيندونکې- مېړنې- زړور-

جان نثاري:(جان-ن-ثا-ري)اسم- واحد- مؤنث- جانبازي- ځان ځارونه- ځان قربانونه-

جاني:(جا-ني)اسم صفت- (۱)جان (ځان) سره منسوب- (۲)خوږ- عزيز- ګران- ډېر نژدې (ملګرې)(م- فارسي)-

جان:(جان)اسم- واحد- مذکر- شوملې- شيبې- تروې-

جاوتري:(جاو-تري)اسم- وګورئ جارکوب-

جاوجي:(جاو-جي)اسم- مذکر- (۱)جبلب- جلب- د وړوکې اس ساز او واګې- راګې-

جاوجي:(جاو-جي)اسم- پره جنبه- ملګرتيا-

جاوجي:(جاو-جي)اسم- واحد جمع- مؤنث- د جامو لمن- د قميص لمن-

www.pukhto.net

د ګادر غاړه۔

جاوجې:(جاؤ-جې)اسم- واحد- مذکر- فهرست- فریست- لست- فرد-

جاودان:(جا-وي-دان)اسم صفت- ترتله- ترعمره- ابدي- لازوال- جاوېداني-(م- فارسي)-

جاوداني:(جا-وي-دا-ني)اسم- مونث- همېشګي- دوام- تل تر تله- پاتې کېدنه- (م- فارسي)-

جاودر:(جاو-در)اسم- واحد- مذکر- جودر- جمدر- يو قسم واښه چې په غنمو کښې کېږي- نباتاتي نوم اې وېنافې تېوا-

جاور:(جا-ور)اسم-واحد- مذکر- يو قسم بوټې- (افغانستان)-

جاوسا:(جاو-سا)اسم- واحد- مذکر- کرونج- بېخل- د لرګيو جوړه پوه رغاونه چې د اُبو منګی پرې اېښوې شي-

جاوکې:(جاو-کې)اسم- واحد- مذکر- د غز يو قسم چې د خشاک په طور استعمالېږي- ام- هندي- جهاز)- نباتاتي نوم ټربرکس ګبليا TURBRICS GALLICA)-

جاوله:(جاو-له)اسم- واحد- مؤنث- زاوله- خاوله- زاوله- ژوعله- ژوله-

جاوو:(جا-وو)اسم- واحد- مذکر- يو قسم ترېو خوند لرونکې بوټې- (افغانستان)-

جاوېد:(جا-وېد)اسم صفت- واحد- مذکر- جاودان- همېشه- دائم- (م- فارسي)-

جاه:(جاه)اسم- مرتبه- عزت- درجه- جلال- شان-(م- فارسي)-

جاه طلب:(جاه-ط-لب)اسم صفت- د شان د پاره عزت غوښتونکې- لوئي غوښتونکې- (م- فارسي)-

جاه طلبي:(جاه-طل-بي)اسم- مؤنث- عزت غوښتنه- غزت طلبي- خانته سخانه د لويي غوښتنه کونه- (م- فارسي)-

جاه جلال:(جا-هو-ج-لال)اسم- رعب او دبدبه- شان او شوکت- دبدبه- (م- فارسي)-

جاهل:(جا-هل)اسم صفت- واحد- مذکر- جهل لرونکې- بې علمه- ناپوهه- جمع جاهلان-

جاهليت:(جا-هي-لي-يت)اسم- (۱)د جاهل کېدو حالت- د جهل کار- بې علمي- ناپوهي- ناداني- (۲)د حضور عليه السلام د مبعوث کېدلو نه مخکښې دور- (م- عربي)-

جاهو:(جا-هو)اسم- يو قسم آتش بازي-

جاې:(جاې)اسم- واحد- مذکر- ځاې- مقام- جمع جايونه- (م- فارسي)-

جاې بند:(جاې-بند)اسم صفت- واحد- مذکر- په يو ځاې ولاړ- قيد شوې-

جاې ضرورت:(جا-ې-ض-رو-رت)اسم- مذکر- د حاجت ځاې- بيت الخلاء- (م- فارسي)-

جانداد:(جاې-داد)اسم- واحد- مذکر- (۱)ورثه- ملکيت- مال حال- دفتر- زمکه- (۲)کښت- فصل-

جائز:(جا-ئز)اسم-واحد- مذکر- جواز لرونکې- روا- مناسب- ټيک- صحيح- درست- حلال- د شرعي او قانون مطابق- اصلي- مستند- د منظورۍ قابل- (م- عربي)-

جائزه ورونکې:(جا-ئ-زه-ور-ون-کې)اسم صفت- انعام اخستونکې- هغه څوک چې د چه کار په مقابل کښې درناوې تر لاسه کړي-

جائزه:(جا-ئ-زه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)اندازه لګونه- قياس اخستنه- جاچ- پړتال- کتنه- حاضري- شمار- ګنتي- لټون- (۲)انعام- (افغانستان)-

جايګير:(جاې-ګير)اسم- واحد- مذکر- وګورئ جاګير-

جايګيردار:(جاې-ګير-دار)اسم صفت- وګورئ جاګيردار-

جايګيرداري:(جاې-ګير-دا-ري)اسم- مؤنث- وګورئ جاګيرداري-

جايفل:(جاې-فل)اسم- واحد- مذکر- يوه ونه او د هغې مېوه چې په دارو کښې پکارولې شي- نباتاتي نوم- مي رستيکا مېس شټها (MYRISTICA MASCHATA)-

جب:(جب)اسم- واحد- مذکر- وګورئ جېب- جمع جبونه-

جب:(جب)اسم- واحد- مذکر- (۱)لوند خښت- لونده- د جوب سره د سابقې په توګ راځي- لکه جب جوب- (۲)جبه- زيمناک ځاې- هغه زمکه چې اُبه پکښې ولاړې وي-

جباته:(ج-با-ته)اسم- واحد- مؤنث- جېبهه- خاندر- پېټو- ټپکرې- لوپټه- جمع جباتې-

جباخانه:(ج-با-خا-نه)اسم- واحد- مؤنث- بارودخانه- جمع جباخانې-

جبار:(ج-بار)اسم صفت- مذکر- زورآور- (۲)د خداې تعالى يو صفتي نوم-

جباړه:(ج-با-ړه)اسم صفت- واحد- مؤنث- اومته- واوره او باران چې په يو ځاې وريږي- جړباجړ- جبازه-

جبازه:(ج-با-زه)اسم- واحد- مؤنث- شرق- د واورې طوفان- د باران او د واورې په يو ځاې وريدنه- جړباجړ- جباړه- (افغانستان)-

جبال:(ج-بال)اسم- جمع- مذکر- غرونه- د جبل جمع- (م- عربي)-

جبان:(ج-بان)اسم صفت- واحد- مذکر- وېرېدونکې- بزدل- (م- عربي)-

جبتال:(جب-تال)اسم- واحد- مذکر- وګورئ جهتال-

جبجبو:(جب-ج-بو)اسم- واحد- مذکر- يو بوټې چې په جبو کښې کېږي-

جب جوب:(جب-جوب)اسم صفت- واحد- مذکر- لوند خښت- خښت پوښت-

جبر:(جه-بر)اسم- واحد- مذکر- (۱)ظلم- سختي- زور- زياتې- بې رحمي- (۲)په حساب کښې د کسر اختصار- (افغانستان)- (۳)صفت- زورور عام طور سره د خواتي د صفت په طور استعمالېږي-

جبرا:(جب-را)متعلق فعل- په زور- په ظلم- په زياتي-

جبران:(جب-ران)اسم- تلافي کونه- د هغه څه سره مرسته کونه چې تاوان ورورسېدلې وي- (افغانستان)-

جبرانول:(جب-را-ن-ول)مصدر متعدي- (۱)جبران کول- (۲)مرسته کول- (افغانستان)-

ی (غَی-ږل)، ی (مې-رو-ول)، ی (يېا-لي)، ئِ (ئن-دېر) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

جبرانون:(جبـ-را-ن-ون)حاصل مصدر- وګوری: جبرانول-

جبرانونکی:(جبـ-را-ن-ون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری: جبرانول-

جبرانونه:(جبـ-را-ن-ونـ-ـه)حاصل مصدر- وګوری: جبرانول-

جبرزنا:(ج-بر-ز-نا)اسم- جبرزنا- په زور زنا- زنا بالجبر-

جبرلوټ:(ج-بر-لوټ)اسم صفت- واحد- مذکر- ملتیډونکی ټوپک- ماتونی ټوپک- ملاماتی ټوپک- (افغانستان)-

جبروت:(جبـ-روت)اسم- لویې والی- عظمت- جلال- د الله تعالی یو مخصوص صفت سره منسوب مقام- کبریائی-

جبری:(جبـ-ری)صفت متعلق فعل- (۱)د جبر سره منسوب- (۲)په جبر- په زور-

جبریه:(جبـ-ری-یه)صفت متعلق فعل- (۱)جبر سره منسوب- (۲)هغه نظریه چې د هغې مطابق انسان په خپلو کارونو کښې مختار نه دے-

جبری:(جبـ-ری)اسم- (۱)ګلټیس- هغه تسمې چې پټلون یا جرابې پرې ټیټکولے شی- (۲)هغه جرابې چې تر زنګونونو پورې وی- (افغانستان)-

جبل:(ج-بل)اسم- واحد- مذکر- د اسپنې هغه تېره ږنده چې زمکه پرې کستے شی-

جبلت:(ج-بل-لت)اسم- فطرت- پیدائشی خاصیت- (م- عربی)-

جبلی:(ج-بـ-لی)اسم صفت- فطری- پیدائشی- (م- عربی)-

جبلی:(ج-بـ-لی)اسم صفت- (۱)وړوکے قد لرونکے- (۲)کوټی- ګنه وړکونکے- بې دریغه ګڼه وړکونکے- (۳)غټ غېږ لرونکے-

جبندے:(ج-بن-دے)اسم صفت- (۱)پهږ- د "ننګه" ضد-

جبوړے:(ج-بو-ړے)اسم صفت- (۱)ناراسته- (۲)بې شرمه- بې غیرته- (۳)پست- پست- کوزستړکے-

جبون:(ج-بون)اسم صفت- (۱)ویرندوکے- بزدل- (۲)تربوزک- مول- اوربوزی-

جبه:(جـ-به)اسم صفت- (۱)هغه زمکه چې اوبه پکښې ولاړې وی- جب- ږنده- بوخته- چقړه- (۲)اسم- واحد- مؤنث- هغه لوښے چې د کانی تېل پکښې جمع کیږی-

جبه:(ج-به)اسم- واحد- مؤنث- خرقه- شوکه- شوقه- شقه- خرته- خلقه- چپنه- یو پوشاک چې د جامو دپاسه اچولے شی- جمع جبې-

جبه خانه:(ج-به-خا-نه)اسم- واحد- مؤنث- جبهه خانه- جباخانه- سلاخانه-

جبه خور:(ج-به-خور)اسم- واحد- مذکر- تانه او لونده خشته زمکه- تاندوبه-

جبه زار:(ج-به-زار)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه زمکه چې اوبه پکښې ځپله راوځی-

جبه ویرے:(ج-به-وی-رے)اسم صفت- جب ویرے- جبه ویرے- د لوی درنې ویرې ځښتن- جمع جبه ویرې-

جبهه:(جبـ-هه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پله- دسته- جمات- محاذ- (۲)د جنګ د میدان مخکښې برخه- سرحد- باډر- (۳)تندے- (۴)د سپوږمۍ د یو منزل نوم- (افغانستان)- (م- عربی)-

جبین:(ج-بین)اسم- واحد- مذکر- تندے- وچولے- ټنډه- (م- فارسی)-

جبی:(ج-بی)اسم- واحد جمع- مؤنث- یو ازغن بوټے چې سره ګلونه کوی- (۲)وګوری: جبی

جپ:(جپ)اسم- واحد- مذکر- ټپ- خاموش- بند- ترلے- چُپ چاپ- مؤنث جپه-

جپا:(ج-پا)اسم- واحد- مؤنث- د جفا مغف- ظلم- زیاتے- زور-

جپالے:(ج-پا-لے)اسم- واحد- مذکر- وباء- مرګو- ټرک-

جپامرګو:(ج-پا-مر-ګو)اسم- واحد- مذکر- جپالے- مرګو- وباء- عامه وباء-(شاید چې د جفا او مرګو ترکیب وی)-

جپان:(ج-پان)اسم- واحد- مذکر- چوپان- لویه پولی- هغه پولی چې بازوګان ترې د لاندې وی-

جپتال:(جپ-تال)اسم- واحد- مذکر- د یو تال نوم- (م- هندی)-

جپړ:(ج-پړ)اسم- واحد- مذکر- جم جګړ- بادو باران- هغه باران چې سیلی ورسره وی او زیاتره د پشکال په وخت کښې راځی-

جپړ:(ج-پړ)اسم- واحد- مذکر- عبث او بیکاره ځیزونه- بې ځې سامان-

جپه:(ج-په)اسم- واحد- مؤنث- چپه- ځپه-

جپه:(ج-په)اسم- چپه- هغه لرګے چې ماڼګان پرې کشتی چلوی- بیل-

جت:(جت)اسم صفت- واحد- مذکر- جټ- ان پړ- جاهل- ناپوه- بې علمه-

جت:(جت)اسم- واحد- مذکر- (۱)پول- شکل- قیافه- بڼه- منظره- (۲)جوړه- جفت- جوړه- د طاق ضد-

جت:(جت)اسم صفت- واحد- مذکر- ساروان- اوښانو والا- اوښبه- اوښبون- (افغانستان)-

جت:(جت)اسم- واحد/جمع- مذکر- وزغونے- وچفے-

جتان:(ج-تان)اسم- واحد- مذکر- معمار- وستاکار- لوهار- ترکاڼ-

جت بولی:(جت-بو-لی)اسم- بې حیائی- بې شرمی- سپک کارونه- سپکه خله-

جته:(ج-ته)صفت- دننه- د بهر ضد- د جبندے ضد-

جته:(ج-ته)اسم- واحد- مؤنث- ټولے- غنډه- پله- جټی- (م- هندی)-

جتی:(جت-تی)اسم صفت- خسک چرګ یا چرګه- هغه چرګ یا چرګه چې نه تلنګی وی او نه انګریزی- ګوړمکی-

جتی ستی:(ج-تی- س-تی)صفت- (۱)ستی ستی- (۲)لونه- (۳)بې پروا- (۴)بد خرڅه- فضول خرڅه- نا وادهٔ کړے سړے-

جټ:(جټ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)جاټ- (۲)پنجابے- (۳)ناراسته- ناپوهه- جاهل-

جټ:(جټ)اسم- واحد- مذکر- دائره- مواره- پواره- (انګریزی)-

جټاتړ:(ج-ټا-تړ)اسم- واحد- مذکر- هغه علاقه چې جټ قام پکښې استوګه کوی-

جټانه:(ج-ټا-نه)صفت/متعلق فعل- وګوری: جټکانه-

www.pukhto.net

جټ پټ:(جټ-پټ)متعلق فعل- جټ پټ- پټا پټ- ژر تر ژره- سمدستي- په ان پن کښې- په چوپټ کښې- فوراً- فتاپټ-
جټ پول:(جټ-پول)اسم- واحد- مذکر- د ښځو مکر او فریب-
جټتوب:(جټ-توب)اسم- جټوالی- ناپوهي- بې علمي-
جټکانه:(جټ-کا-نه)صفت متعلق فعل- (۱)د جټ سره منسوب- (۲)د جټانو په طریقه-
جټکه:(جټ-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خوربدنه- لړزېدنه- جلکه- جیبکه- ذیکه- جوټه- (۲)د حلال ضد- حلال څاروی یا مارغان د خوراک د پاره د حلالولو په ځای مرداروَنه-
جټکانه:(جټ-کا-نه)صفت متعلق فعل- (۱)وګورئ جټکانه- (۲)ناڅاپي- ناګهانه-
جټه:(ج-ټه)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)غټه او څربه ښځه- (۲)نازامه- ناپوهه- د جټ مؤنث-
جثه:(ج-ثه)اسم- واحد- مؤنث- جوثه- شکل- صورت- ځېره- بدن- (م- عربي)-
جج:(جج)اسم صفت- واحد- مذکر- منصف- (م- انګریزي)-
جج:(جج)اسم- واحد- مذکر- (۱)د زنې کُتے- د زنې کوغالے- (۲)د زنې لاندې غوښه- غرې- ججوره-
ججکے:(جج-کے)اسم تصغیر- وګورئ ججه-
ججلداغ:(ج-جل-داغ)اسم- واحد- مذکر- یو قسم ملخ چې حلال وي-
ججوره:(ج-جو-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ججیره- د مارغانو معده- پوټه- حاغوره- (۲)پرسېدلے ورمېږ- مرۍ- چمبرق- (۳)د ټوپک هغه برخه چې کارتوس پکښې ځائیږي- د ټوپک میګزین- چارجر-
ججوے:(جج-وے)اسم- واحد- مذکر- د لاله ګل- ریدي ګل- شندي ګل-
ججه:(ج-جه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)قلنګ- (۲)باج- (۳)جزیه-
ججے:(ج-جے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم مارغه- قره قل- جیجے-
جحیم:(ج-حیم)اسم- واحد- مذکر- دوزخ- جهنم- جاندم- (م- عربي)-
جخ:(جخ)اسم- واحد- مذکر- (۱)د اُبو مچ- (۲)ځخګ- (۳)پرسوکی- پړوسی- حباب- بوړبوکی- (۴)فضول ګوئي- بکواس- عبث خبري-
جخت:(جخت)صفت متعلق فعل- (۱)نژدې- پیوست- (۲)سلامت- روغ- سالم- (۳)تقریباً-
جختواله:(جخت-وا-له)اسم- برابري- نژدې واله- سمواله- (افغانستان)-
جختوالے:(جخت-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- نژدې والے- مربکت- پیوستوالے-
جختول:(جخ-ته-ول)مصدر متعدي- نژدې کول- پیوست کول- یوځاي کول-
جختون:(جخ-ته-ون)حاصل مصدر- وګورئ جختول-
جختونکے:(جخ-ته-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ جختول-
جختونګ:(جخ-ته-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ جختول-
جختونه:(جخ-ته-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ جختول-
جخته:(جخ-ته)اسم- واحد- مؤنث- د جخت مؤنث-
جختېدل:(جخ-تې-دل)مصدر لازم- پیوست کېدل- نژدې کېدل- جخت کېدل- یوځاي کېدل-
جختېدن:(جخ-تې-دن)حاصل مصدر- وګورئ جختېدل-
جختېدونکے:(جخ-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ جختېدل-
جختېدنګ:(جخ-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ جختېدل-
جختېدنه:(جخ-تې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ جختېدل-
جختېده:(جخ-تې-ده)حاصل مصدر- وګورئ جختېدل-
جخني:(جخ-نې)اسم- واحد جمع- جخې- د سترګو ګند-
جد:(جد)اسم- واحد- مذکر- نیکه- د مور یا د پلار پلار- مورث اعلیٰ- (م- عربي)-
جداً:(ج-دن)متعلق فعل- په ټینګه سره- په جدي توګه- په کلکه سره- (افغانستان)-
جدا:(ج-دا)اسم صفت- بیل- ځانله- ګوښې- یواځې- یو طرف ته-(م- فارسي)-
جدا جدا:(ج-دا-ج-دا)اسم صفت- بیل بیل- ګوښې ګوښې- ځان ځان له- یواځې یواځې-
جدار:(ج-دار)اسم- واحد- مذکر- دیوال- (عربي)-
جداګانه:(ج-دا-ګا-نه)صفت متعلق فعل- ګوښې- ځانته- بیل- یو طرف ته- په جدا توګه-
جدال:(ج-دال)اسم- واحد- مذکر- (۱)جنګ و جدل- جنګ- دښمني- جګړه- (۲)جدال (عامیانه)(م- عربي)-
جدائي:(ج-دا-ئي)اسم- بیلتون- جدا والے- هجران- فراق-
جدت:(جد-دت)اسم- واحد- مذکر- نوے والے- جدیدیت- (م- عربي)-
جدر:(ج-در)اسم صفت- واحد- مذکر- د ګلورو کالو اوبن-
جدر:(ج-در)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)تباه- برباد- هلاک- (۲)اسټه- سیاد- جرړه- رده- بنسټ- اساس-
جدل:(ج-دل)اسم- واحد- مذکر- (۱)جنګ جګړه- مخالفت- دښمني- (۲)شور- کړس- بحث- (افغانستان)-
جدلیات:(جد-لي-يات)اسم- جمع- د جدلیت جمع خو واحد يې ته استعمالیږي- د منطق هغه قسم چې د استدلال قاعدې او طریقې ښئ-
جدلیاتي:(جد-لي-يا-تي)اسم صفت- جدلیات سره متعلق-
جدلیاتي مادیت:(جد-ل-يا-تي-ما-دي-يت) اسم- واحد- مذکر- د کارل مارکس د تاریخ په باره کښې نظریه چې د هغې مطابق تاریخ د دوو متضادو قوتونو تر منځه جګړه او د هغې په نتیجه کښې د یو دریم قوت میښځ ته راتلل دي- موجوده حالات د یو داسې طبقاتي کشمکش نتیجه ده چې د سرمایه دارو او زیارکښو ترمنځه دے او چې پکښې د سرمایه دارو

ی" (ښی-رل)، ي"(مې-رمول)، ی"(پیا-لی)، ئ"(نن-وےي) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

متصد دولت ګټل او د ریارکښو متصد د استحصال مخ نیوے کول دي۔

جدوار:(جد-وار)اسم- واحد جمع- مذکر- ژوندوار- ماه پروين- يو دارو- نبيسي- د يو بوټي جره- ترياق- يو دارو چې د زهرو اثر وژني- (م- عربي)-

جدوجهد:(ج-دو-ج-هد)اسم- واحد- مذکر- هڅه- کوشش- محنت- مشقت- خواري- (م- عربي)-

جدور:(ج-دور)اسم- واحد- مذکر- د ماشومانو د ژبې پورته کولو دارو- (افغانستان)-

جدول:(جد-ول)اسم- واحد- مذکر- (۱)فهرست- لسټ- (۲)حاشيه- د کتاب د پاڼې نه ګېر چاپېر راکښلې کرښې- (۳)شېږول- (م- فرانسيسي، يوناني، عربي)-

جدول کشي:(جد-ول-کـشي)اسم- فهرست جوړونه- حاشيه راکښنه- شېږول جوړونه- (م- فارسي، عربي)-

جدي:(ج-دي)صفت- جد سره متعلق- د نيکهٔ لهٔ خوا- موروثي- عربي کښې پهٔ دې شد دے- (م- عربي)-

جدي:(ج-دي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)اسم آسماني برج چې د ګکوروې بزې پهٔ شکل ځرګندولے شي- (۲)د هجري شمسي کال لسمه مياشت چې د انګريزي مياشتې د ۲۲ دسمبر نه د ۲۰ جنوري پورې وي- (۳)اصفه جغرافياني کرښه چې د استواني کرښې نه سوبل خوا ته پهٔ ۲۷ نه ۲۲ درجې تيريږي- عربي کښې پهٔ "د" شد دے- (م- عربي)

جدي:(ج-دي)متعلق فعل صفت- واحد- مذکر- (۱)عمال- نکره- (۲)حقيقتي- د حقيقت لهٔ مخې- (۲)پهٔ جديت- (م- عربي)-

جديت:(ج-دي-يت)اسم- (۱)کوشش- تکړه والے- (۲)تېزوالے- تېزي- (م- عربي)-

جديد:(ج-ديد)صفت- نوے- د موجوده وخت- تازه-

جديدي:(ج-دي-دي)صفت- جديد سره منسوب-

جديديت:(ج-دي-دي-يت)اسم- واحد- مذکر- نوے والے- نوے توب- د جديد کېدو حالت-

جذاب:(ج-ذاب)صفت- راکښونکے پهٔ زړهٔ پورې - جذب کونکے- پهٔ خان کښې ځايونکے-(م- عربي)-

جذام:(ج-ذام)اسم- واحد- مذکر- بېم- پمن توب- يو جلدي مرض- (م- عربي)-

جذامي:(ج-ذا-مي)اسم صفت- د جذام سره منسوب- د جذام مريض-

جذب:(ج-ذب)اسم- واحد- مذکر- (۱)راکښنه- اثر- کشش- (۲)جوش- پهٔ خان کښې ځايونه- (۳)د بېخودۍ کېفيت چې پهٔ بزرګانو خلقو راځي- (م- عربي)-

جذبات:(جد-بات)اسم- جمع- د جذبه جمع- (م- عربي)-

جذباتي:(جذ-با-تي)اسم صفت- واحد- مذکر- جذبې سره متعلق- جوشي- جذبه کښې راتلونکے- هغه څوک چې ژر پهٔ څهٔ خبره پهٔ جوش کښې راځي-

جذبول:(جذ-ب-ول)مصدر متعدي- جذب کول- راکش کول- خان ته راکښل- د خان سره مل کول-

جذبون:(جذ-ب-ون)حاصل مصدر- وګورئ جذبول-

جذبونکے:(جذ-ب-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ جذبول-

جذبونه:(جذ-ب-ونه)حاصل مصدر- وګورئ جذبول-

جذبه:(جذ-به)اسم- واحد- مؤنث- د ذهن هيجان- جوش - د نفسياتو پهٔ اصطلاح کښې د ذهن لهٔ هغو درېو خاصيتونو څخه يو چې د حقيقت ادراک پرې کېدے شي نور دوه خاصيتونه ئې پهٔ ترتيب احساس او علم دي-

جذبېدل:(جذ-بې-دل)مصدر لازم- راکښل کېدل- جذب کېدل- راکښېدل- يوې خوا ته کېدل-

جذبېدلے:(جذ-بې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ جذبېدل-

جذبېدن:(جذ-بې-دن)حاصل مصدر- وګورئ جذبېدل-

جذبېدنګ:(جذ-بې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ جذبېدل-

جذبېدنه:(جذ-بې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ جذبېدل-

جذبېدونکے:(جذ-بې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ جذبېدل-

جذبېدهٔ:(جذ-بې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ جذبېدل-

جذر:(ج-ذر)اسم- واحد- مذکر- (۱)جرړه- اصل- ريښه- (۲)د رياضي پهٔ اصطلاح کښې د مربع ضد- يو مربع شوے عدد چې بېرته خپل اصل ته وګرځولے شي لکه ۲۵ نه پينځه يا- کلمه ۹ نه ۳ -

جر:(جر)اسم صفت- (۱)مغلوب- ماتې- پړ- (۲)ماتې- شکست- (۳)الا- تحقيري کلمه- (۴)لهٔ خرهٔ نه د آواز ايستلو د پاره مخصوصه کلمه- (مصدر- کول،کېدل)-

جر:(جر)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه لښتے چې د زمکو چاپېره د زياتې اُبو د پاره کښستے شوے وي- اړاب- زاکين- زابر- (۲)د منبوي پهٔ مقابله کښې تاکلې ځاې ته رسېدنه او لاس لګونه-

جرابه:(ج-را-به)اسم- واحد- مؤنث- لهٔ وړۍ، نائيلون يا نور قسمهٔ تارونو جوړه د پښو د اغستو کفوره- جمع جرابې-

جرات:(جر-ات)اسم- واحد- مذکر- بهادري- زړهٔ ورتيا- شجاعت- مېړنتوب- جسارت-

جرابه:(ج-را-به)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ جرابه-

جراثيم:(ج-را-ثيم)اسم- جمع- مذکر- ترې واړهٔ چينجي چې بې لهٔ خوردبينه پهٔ نظر نهٔ راځي- (واحد ئې جرثومه ده)(م- عربي)-

جراح:(جر-راح)اسم صفت- واحد- مذکر- سرجن- د زخمونو علاج کونکے- ټيرونکے- (م- عربي)-

جراحت:(ج-را-حت)اسم- واحد- مذکر- (۱)جراحي- د پرهر زخم د ټيرلو کار- د جراح پيشه- سرجري- د زخمونو د علاج کار- (۲)ټپ- زخم- پرهر- پرار- پرهار- (م- عربي)-

زبر "(ج-بـڼـدـره)، زورکے "(شل)، پېش "(تو-کا-ره)، زېر "(کـتـاب)، جزم "(شکون)، "ټ"(ر-يږه)، "ه"(يو-سي-دهٔ)

www.pukhto.net

حراحي:(جر-را-حي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ جراحت وروستی معنیٰ-
حراد:(ج-راد)اسم- واحد- مذکر- مَلَخ- (م- عربي)-
حرار:(ج-رار)اسم صفت- مذکر- (۱)راکښونکے- اصل معنیٰ پهٔ وسله او نورو الاتو مسلح او دَ بې شمېره فوځ، لښکر وغیره دَ پاره- (۲)چالاک- خبر لوځ- (۳)زړهٔ ور- تکړه- (۴)کړندے- (م- عربي)-
جراز:(ج-راز)اسم- واحد- مذکر- (۱)نشتر- (۲)خنجر- (۳)اتل-
جراسک:(ج-را-سک)اسم- واحد- مذکر- کیرړے- خرړے- کرړے- یو قسم چینجے-
جرائم:(ج-را-ئم)اسم- جمع- مذکر- د جرم جمع- جرمونه-
جرب:(جرب)اسم- واحد- مذکر- (۱)پم- پوم- دربه- خارښت- دَ څرمنې یوه بیماری چې دَ وینې دَ خرابۍ لهٔ کبله پېدا کیږي- (۲)کورمنګ- خنګلی چرګ- (م- عربي)-
جرړے:(جر-ړے)اسم صفت- واحد- مذکر- کړتن- کړتو- غرتن- غرتو- بکواسي- پوچ ګو-
جرثقیل:(جر-ثه-قیل)اسم- واحد- مذکر- کرین- مشینی پهلوان- (عربي)-
حرجر:(حر-جر)اسم صوت- (۱)جر- دَ خرهٔ دَ شوق دَ راپاروَلو دَ پاره مخصوصه کلمه- (۲)الا- بو- چا پوري دَ خندا کولو پهٔ وخت عموماً وئيلے شي-
جرجور:(جر-جور)اسم- واحد- مذکر- جرړبے- جوړجوړے- وړوکے ابشار-
جرجورۍ:(جر-جو-رۍ)اسم تصغیر- واحد جمع- مؤنث- وګورئ جرجور-
جرجیر:(جر-جیر)اسم- واحد- مذکر- یو قسم ساګ چې اوم خوړلے کیږي- تره تېزک- نباتاتي نوم دَ پاره وګورئ ترتیزک-
جرح:(ج-رح)اسم- واحد- مؤنث- (۱)بحث- نکته چیني- شهادت باطلونه- (۲)پرهر- زخم- ټپ- ام- عربي)-
جرده:(جر-ده)اسم- واحد- مذکر- هغه اس چې پلار يې لهٔ عربي نسله او مور يې لهٔ بله نسله وي-(م- عربي)-
جرړه:(جر-ړه)اسم- واحد- مؤنث- بېخ- ریښه- بنیاد-
جرړۍ:(جر-ړۍ)اسم- واحد/جمع- مؤنث- یو قسم چرچڼه-
جرس:(ج-رس)اسم- واحد- مذکر- (۱)کَنټې- ژغژغه- غټ کینګرے- غره- (۲)یو قسم مارغهٔ چې دَ سیندونو پهٔ غاړو کښې وَسي- ام- فارسي)-
جرسوټ:(جر-سوټ)اسم صفت- واحد- مذکر- جرموټ- مشروټ- مشروټے- واکو- نیمرکے- پټو-
جرسوټے:(جر-سو- ټے)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ جرسوټ-
جرعه:(جر-عه)اسم- واحد- مؤنث- ګوټ- غړپ- (م- عربي)-
جرعه نوش:(جر-عه-نوش)اسم صفت- واحد- مذکر- ګوټ کونکے- ګوټ څښونکے- شراب پهٔ ګوټ ګوټ څښونکے- (دَ جرعه عربي او نوش فارسي مرکب)-
جرغاتکه:(جر-غا-ت-که)اسم- واحد- مؤنث- دَ یوې مرغۍ نوم-

جرقه:(جر-قه)اسم- واحد- مونث- (۱)لمبه- سپرغۍ- بڅرے- (۲)جرق- جرک- (م- فارسي)-
جرګ:(جرګ)اسم- واحد- مذکر- دَ ماشومانو یو قسم دارو-
جرکانے:(جر-کا-نے)اسم- واحد- مذکر- چونګے- جونګے- دَ سودا نه سبواني مفت ګیز- سرباری- جمع جرکانی-
جرکېدل:(جر-کې-دل)مصدر لازم- (۱)مغلوبېدل- پړ کېدل- شکست خوړل- (۲)کړوږ کېدل- انجرېدل- بناخه کېدل-
جرکېدن:(جر-کې-دن)حاصل مصدر- وګورئ جرکېدل-
حرکدنګ:(جر-کې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ جرکېدل-
حرکېدنه:(جر-کې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ جرکېدل-
جرکندونکے:(جر-کې-دون-کے) اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ جرکېدل-
جرکدهٔ:(جر-کې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ جرکېدل-
جرګ:(جرګ)اسم- مقدار- اندازه- جمع جرګونه- (افغانستان)-
جرګانه:(جر-ګا-نه)متعلق فعل- د جرګې پهٔ پول- دَ جرګې پهٔ طور-
جرګارو:(جر-ګا-رو)اسم صفت- واحد- مذکر- جرګتو- دَ جرګې غړے- جرګېتو-
جرګتو:(جر-ګه-تو)اسم صفت- مذکر- دَ جرګې قابل- جرګارو- دَ جرګې غړے- جرګېو-
جرګېو:(جر-ګه-تو)اسم صفت- مذکر- وګورئ جرګتو-
جرګه:(جر-ګه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)غنډ- مرکه- ټولے- دَ مشورې مجلس- دَ څهٔ خبرې دَ حل کولو پهٔ غرض راغنډ شوی خلق- (۲)مصلحت- مشوره- صلاح- جمع جرګې (م- فارسي)-
جرګه کوټي:(جر-ګه-کو-ټي)اسم تصغیر- واحد- مؤنث- وګورئ جرګه ګۍ-
جرګه ګۍ:(جر-ګه- ګۍ)اسم تصغیر- واحد- مؤنث- جرګه کوټي- وړه جرګه-
جرګه مار:(جر-ګه-مار)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ جرګارو-
جرګه وال:(جر-ګه-وال)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- وګورئ جرګارو-
جرلک:(جر-لک)اسم- جرلک- خرلک- یو خړرنګے سخت اغزے چې پهٔ تندمار کښې زیات پیدا کیږي-
جرلک:(جر-لک)اسم- واحد- مذکر- وګورئ جرلک-
جرلنډ:(جر-لنډ)صفت- سرکښ- سرکښ-
جرلنډے:(جر-لن-ډے)اسم- فساد- غوبمه- غوبل- پسات- (۲)فساد کونکے- (اسم فاعل)-
جرم:(ج-رم)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ قانون د لاندې قابل سزا حرکت- جنایت- (۲)غلطي- خطا- ګناه- جمع جرمونه جرائم-(م- عربي)-
جرمانه:(جر-ما-نه)اسم- واحد- مؤنث- تاوان- ناغه- مالي سزا- جمع جرمانې-
جرم بوټي:(ج-رم-بو-ټي)اسم- کوټي- کروټي- کړتي-
جرم کار:(ج-رم-کار)اسم صفت- واحد- مذکر- مجرم- خطاکار- ګناهګار-

www.pukhto.net

جرمن(جر-من)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)تکړه- (۲)طترا- مشروت- د انګریزی د توری جرمن نه مقفر-

جرمنی(جر-م-ني)اسم صفت- واحد جمع- مؤنث- (۱)د جرمنی سره منسوب- (۲)د جرمنی ژبه- (۳)یو خاص قسم تماچه-

جرمنے(جر-م-نے)اسم- واحد- مذکر- یو دات چې لوښي تري جوړيږي- الموينم-

جرموړه(جر-مو-ړه)اسم- واحد- موٴنث- لړمه- مټاکه- غنوارے- په بدن د څۀ زمرژن شیر د ګرحیدو په وجه پیدا کیدونکې مټاکه چې خارښت کوي- جمع جرموړي-

جرمده(جر-ده)اسم- واحد- موٴنث- جنده- ساله- کُلپ- قتن-

جرنګ(جرنګ)اسم صوت- وګوری شرنګ-

جرنګاے(جرنګ-ګاے)اسم- واحد- مذکر- ټنګ ټنګے- ژغږے- جرس- جرچنے- کیکړے-

جرنګارو(جرنګ-ګا-رو)اسم- واحد- مذکر- شرنګارو- شړنګارو- جرنګارو-

جرنګے(جرنګ-ګنے)اسم- واحد- مذکر- وګوری جرنګاے-

جرنګول(جرنګ-ګ-ول)مصدر متعدی- شرنګول- شړنګول-

جرنګون(جرنګ-ګ-ون)حاصل مصدر وګوری جرنګول-

جرنګونګ(جرنګ-ګ-ونګ)حاصل مصدر- وګوری جرنګول-

جرنګونه(جرنګ-ګ-ونه)حاصل مصدر- وګوری جرنګول-

جرنګونکے(جرنګ-ګ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع جرنګونکي- مؤنث جرنګونکې وګوری جرنګول-

جرنګېدل(جرنګ-ګې-دل)مصدر لازم- شرنګېدل- شړنګېدل- جرنګېدل- (امعاستان)-

جرنګېدن(جرنګ-ګې-دن)حاصل مصدر- وګوری جرنګېدل-

جرنګېدنګ(جرنګ-ګې-دنګ)حاصل مصدر- وګوری جرنګېدل-

جرنګېدنه(جرنګ-ګې-دنه)حاصل مصدر- وګوری جرنګېدل-

جرنګېدونکے(جرنګ-ګې-دون-کے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګوری جرنګېدل-

جرنېل(جر-نېل)اسم- واحد- مذکر- د موځ لوئ افسر- (م- انګریزی)-

جرنېل(جر-نېل)اسم صفت- (۱)مشروت- مغرور- (۲)لرے- د ځناور د مقدی سره حصه-

جرنېلي(جر-نې-لي)اسم- واحد- مذکر- (۱)د جرنېل سره منسوب- د سړک او هسپتال د صفت په طور- (۲)لویې- عام-

جرنېلي(جر-نې-لي)اسم- واحد- مؤنث- مشروتي- مغرورتیا-

جرنېلتوب(جر-نېل-توب)اسم- وګوری جرنېلي ۲-

جرنېلتیا(جر-نېل-تیا)اسم- وګوری جرنېلتوب-

جروپ(ج-روپ)اسم- واحد- مذکر- مسي- یو قسم د سر کالے-

جروتل(جر-و-تل)مصدر متعدی- جاروتل- ګرځېدل- ستندل- منع کېدل- مع ګرځول- ځرځول-

جروتن(جر-و-تن)حاصل مصدر- وګوری جروتل-

جروتنګ(جر-و-تنګ)حاصل مصدر- وګوری جروتل-

جروتنه(جر-و-تنه)حاصل مصدر- وګوری جروتل-

جروتونکے(جر-و-تون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری جروتل-

جروح(ج-روح)اسم- جمع- مذکر- زخمونه- ټپونه- ایرشونه- پرهرونه- داغونه- (م- عربی)-

جروبي(ج-رو-بي)اسم- واحد- مؤنث- مقاب- مع پروسے- روبند-

جره(ج-ره)اسم- جړي- جیجے- سپے بوټے- کوسرے بوټے- یو ازغن بوټے چې د سړي جامو او ګډو سره یوری نښلي-

جره(ج-ره)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)لوند- نا وادۀ کړے- مجرد- (۲)اتره- یوالې- ګوښې- تنها-

جره(ج-ره)اسم- واحد- مذکر- یو ښکاری مارغۀ چې د باز نر وي-

جره توب(ج-ره-توب)اسم- مذکر- (۱)لوندتوب- (۲)تنهاوالے- یوالې توب-

جره والے(ج-ره-والے)اسم- مذکر- وګوری جره توب-

جري(ج-ري)اسم- مذکر- یو قسم بوټے- وګوری جره-

جري(ج-ري)اسم صفت- (۱)وسترګے- تغیر خوړونکے- بدلېدونکے- (امعاستان)-

جري(ج-ري)اسم- واحد- مؤنث- د ترکاڼ هغه اوزار چې د لرګی مېنځ ګیري-

جري(ج-ري)اسم صفت- زړه ور- جرات لرونکے- بهادر- (م- فارسی)-

جریان(جر-یان)اسم- واحد- مذکر- (۱) یوه بیماری چې پکښې بې لۀ خوښې انزال کیږي- (۲)روانی- جاری پاتې کېدنه- بهدنه-

جریب(ج-ریب)اسم- واحد- مذکر- (۱) د زمکې د پیمائش پیمانه- ځلور کنډه- تیا مرلې- (۲)هغه زنځیر چې زمکه پرې ناپ کولے شي- (۳)د زمکې د پیمائش یوه اله- (م- فارسی)-

جریبا(ج-ری-با)منطق مق- د جریب (جیرب)په حساب-

جریب کش(ج-ریب-کش)اسم صفت- د زمکې د ناپ کولو په وخت زنځیر راکښونکے- ناپ کونکے-

جریبن(ج-ری-بن)اسم- واحد- مذکر- یو قسم بوټے چې پاڼې ئې ډېره ښۀ خوشبو لري- نباتاتي نوم ئې ورین یم GERANIUM- کوزه پښتونخوا کښې ورته ست جریبن وائي-

جریبول(ج-ری-بول)مصدر متعدی- جریب کول- زمکه جریب کول- زمکه په جریبانو کښې وېشل یا تقسمول-

جریبون(ج-ری-بون)حاصل مصدر- وګوری جریبول-

جریبونکے(ج-ری-بون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری جریبول-

جریبونګ(ج-ری-بونګ)حاصل مصدر- وګوری جریبول-

جریبونه(ج-ری-بونه)حاصل مصدر- وګوری جریبول-

جریده(ج-ری-ده)اسم- واحد- مؤنث- (۱)اخبار- خانګه- (۲)ابی پاڼو څانګه-

زبر "(ج-سفه-ره)، زورکے "(شل)، پېښ "(نو-کا-ره)، زیر "(ک-تاب)، جزم "(شکون)، "(ژ-وه)، "(بو-سي-ده)

www.pukhto.net

(۳)یادګار- (۴)محرد- (۵)کرښه افسر- (۶)هغه مجله چې خبرونه هم لري-

حریز (ح-ریز)اسم- واحد- مذکر- شیره- اتوب- ګروبې- اړوب- اریز-

جریمه (ج-ری-مه)اسم- واحد- مؤنث- جرمانه- تاغه- مالي سزا- بانده- تاوان- (افغانستان)-

جړی(ج-ړی)اسم- واحد جمع- مؤنث- لېټې لېټې- چوړی- شیلی شیلی- رختونه- رخونه-

جړ (جړ)صفت- تاژ راتاژ- ګهوړ- احر بنجړ-

جړ (جړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)جرړه- ریښه- بنسټ- بېخ- اساس- بنیاد- سټه- جړه- (۲)زمر- (م- هندی)-

جړ (جړ)اسم صوت- شړ- چړ- د اُبو یا بل مایع څیز د توښېدو آواز-

جړاکی(ج-ړا-کی)صفت- (۱)سخ سړے- (۲)بې وقوف-

جړامبو(جړام-بو)اسم صفت- سست پست- لټ- بې کاره-

جړانکو(جړانګ-کو)اسم- واحد- مذکر- (۱)قلوس- پلوس- یو بوټے چې د جلابو په طور استعمالیږی- (۲)ولم- خروله- بید مجنون- د نباتاتي بوم د پاره وګوری ولم-

جړاو(ج-ړاو)صفت- سکار- سمال- په غمیو پړک شوے- (ش- هندی)-

جړاوول(ج-ړا-و-ول)مصدر متعدی- سنګارول- په غمیو ښائسته کول-

جړاوون(ج-ړا-و-ون)حاصل مصدر- وګوری جړاوول-

جړاوونکے(ج-ړا-و-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری جړاوول-

جړاوونګ(ج-ړا-و-ونګ)حاصل مصدر- وګوری جړاوول-

جړاوونه(ج-ړا-و-ونه)حاصل مصدر- وګوری جړاوول-

جړاوه(ج-ړا-وه)اسم- واحد- مذکر- یو بزل کالے چې په غمیو ښکلے کړے شوے وی-

جړاوېدل(ج-ړا-وې-دل)مصدر لازم- جړاو کېدل- سینګار کېدل- ډولی کېدل- غمی کېدل-

جړاوېدن(ج-ړا-وې-دن)حاصل مصدر- وګوری جړاوېدل-

جړاوېدنګ(ج-ړا-وې-دنګ)حاصل مصدر- وګوری جړاوېدل-

جړاوېدنه(ج-ړا-وې-دنه)حاصل مصدر- وګوری جړاوېدل-

جړاوېدونکے(ج-ړا-وې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری جړاوېدل-

جړاوېده(ج-ړا-وې-ده)حاصل مصدر- د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګوری جړاوېدل-

جړبېر(جړ-بېر)اسم- واحد- مذکر- جاړ- جلاب- جولاب-

جړپېر(جړ-پېر)صفت- په یو بل کښې نښتے- په یو بل کښې نوتے- ګډوډ- بې ترتیبه- جړپېر-

جړپن(جړ-پن)اسم صفت- واحد- مذکر- بکواسی- پټن- پتن- کاږاګ- مصول غوړېدونکے-

جړپول(جړ-پ-ول)مصدر متعدی- مصول غوړول- پتول-

جړپون(جړ-پ-ون)حاصل مصدر- وګوری جړپول-

جړپونکے(جړ-پ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری جړپول-

جړپونګ(جړ-پ-ونګ)حاصل مصدر- وګوری جړپول-

جړپونه(جړ-پ-ونه)حاصل مصدر- وګوری جړپول-

جړپېدل(جړ-پې-دل)مصدر لازم- مصول غوړېدل- پتېدل- پتېدل-

جړپېدن(جړ-پې-دن)حاصل مصدر- وګوری جړپېدل-

جړپېدنګ(جړ-پې-دنګ)حاصل مصدر- وګوری جړپېدل-

جړپېدنه(جړ-پې-دنه)حاصل مصدر- وګوری جړپېدل-

جړپېدونکے(جړ-پې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری جړپېدل-

جړپېده(جړ-پې-ده)حاصل مصدر- د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګوری جړپېدل-

جړجړ(جړ-جړ)اسم صفت- واحد- مذکر- پوچ- خالی- بې ځایه- فضول- بیهوده-

جرجر(جر-جر)اسم صوت- شر شر- د اُبو د راتوښېدو آواز-

جرجری(جر-ج-ری)اسم صوت- وګوری جرجر

جرجرے(جر-ج-رے)اسم- واحد- مذکر- جړوب- خروبے- ابشار- چرته چې اُبو په تېرۍ سره سکته راښهیږی-

جرجور(جر-جور)اسم صوت- وګوری جرجور-

جرس(جرس)اسم صوت- درړ- دربې- ترږ- د دوو یا زیاتو سختو څېزونو د راپرېوتو یا یو تر بله د جنګېدو اواز- تراغ-

جرق(جرق)اسم- واحد- مذکر- جړک- درز- درب- تکان- دیکه- (افغانستان)-

جرکانے(جر-کا-نے)اسم- واحد- مذکر- جرکانے- سرباری- اضافی- جونکے- جونکے-

جړک جړوک(جړک-جړوک)اسم- لړ پېدنه- جړق جړوق- عجاری- چق چړق- دیکه-

جړمړی(جړ-م-ری)اسم- واحد جمع- مؤنث- جړمهړه- جړی- جړمړی- مارجړی- زهرمهره-

جړمړی(جړ-م-ری)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګوری جړمړی-

جرمن(جر-من)صفت- مذکر- زهر لرونکے- زهرژن-

جړموړه(جړ-مو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- جړموړه- لړمه- متاکه- تمبکه-

جړند(ج-ړند)اسم- واحد- مذکر- جونګ- وګوری جیلغ- جمع جړندونه-

جړنګ(ج-ړنګ)اسم- واحد- مذکر- جړند- خېلی- جوړنګ- جېرنګ- تانګ- جیلغ- د هندوانې یا خټکی د بوټی خېلی چې په زمکه خوره تلې وی- جمع جړنګونه-

جړنګانی(جړنګ-کا-نی)اسم- واحد جمع- مؤنث- جن جنے- د ماشومانو چن چې-

جړنګاوړ(جړنګ-کا-وړ)اسم- واحد- مذکر- ګینګړے- ژغړغے- جړنګال- شړنګاوړ- (افغانستان)-

جړنګهار(جړنګ-کا-هار)اسم صوت- شړنګهار- شړنګا- د ګنګروګانو

ې (ځي-رل) ، ي (مې-و-ول) ، ی (پسا-لی) ، ے (تن-دېی) تفصیل د پاره وګوری تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

آوازونه- (افغانستان)-

جړنګے:(جړنګ-کے)اسم صوت- وګورئ جړنګهار-

جړوب:(جړوب)اسم صوت- شړپ- شړوپ- غړوپ- په اوبو کښې د څهٔ څیز د غرزېدو آواز-

جړوبے:(ج-ړو-بے)اسم- واحد- مذکر- آبشار- ځړوبے- زاوه- ګړونګه- جړجړی-

جړوبړ:(ج-ړو-بړ)صفت- په یو بل کښې نښتے- جاخه- وګورئ جړبړ-

جړه:(جڼ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- جرړه- وله- ریښه- بنیاد- اصل-

جړه:(ج-ړه)اسم- واحد- مؤنث- د ګلاب ګل- ګلاپ- ګلاب- (افغانستان)-

جړی:(ج-ړی)اسم صوت- (۱)د سپی غپا- (۲)پرله پسې اوازونه- (افغانستان)-

جړی باجړی:(ج-ړی-باج-ړی)اسم- جمع- (۱)جتړې- چیکړې- خټې- چکړ- د ژمي مسلسل باران- (۲)اسم صفت- غټ مټ-

جړېدل:(ج-ړي-دل)مصدر لازم- جوړېدل- جیړېدل- په کېډه کښې د ګړګړ اواز پیدا کېدل- قراقر کول- ګړړاړکول- په کېډه کښې قرهار پیدا کېدل-

جړېدن:(ج-ړي-دن)حاصل مصدر- وګورئ جړېدل-

جړېدنګ:(ج-ړي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ جړېدل-

جړېدنه:(ج-ړي-دنه)حاصل مصدر- وګورئ جړېدل-

جړېدونکے:(ج-ړي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ جړېدل-

جړېدهٔ:(ج-ړي-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ جړېدل-

جړی:(ج-ړی)اسم- واحد بجمع- مؤنث- (۱)د ژمي پرله پسې باران- په یو مخ باران- (۲)مارجړی- زهرموره- (۳)قے- کانګه- یوه بیماری- (۴)یو غریبز بوټے چې د کانګې ناروغتیا ترې پیدا کیږي-

جز:(جز)اسم صوت- (۱)د حلالې په وخت د وینې د داری آواز- (۲)د سرو کړو غوړو یا د داغلو آواز-

جزا:(ج-زا)اسم- واحد- مؤنث- بدله- عوض- صله- (م- عربی)-

جزائر:(ج-زا-ئر)اسم- جمع- د جزیره جمع- ټاپوګان-

جزائي:(ج-زا-ئي)صفت- د جزا سره منسوب- د جزا- د جزا رو-

جزائېل:(ج-زا-ئېل)اسم- واحد- مذکر- (۱)جزیل- د پخوانی زمانې یو پول ټوپک- (۲)صفت- تېز حرکت لرونکے څیز-

جزائېلچي:(ج-زا-ئېل-چي)اسم صفت- واحد- مذکر- جزیلچي- د جزائېل چلونکے-

جزبز:(جز-بز)اسم- (۱)د ماشوماتو یوه لوبه- (۲)قهر- غصه- سوخت-

جزبزای:(جز-بز-زای)اسم صوت- جز- د وینې د داری آواز- د بکار یا د داغ په وخت د تېلو یا غوړو آواز-

جزبندی:(جز-بن-دی)اسم- جزوبندی- څهٔ څیز په صفحه صفحه کېښنه- په یو ځای کونه-

جزر:(ج-زر)اسم- واحد- مذکر- د سمندر د اُبو ښکته کېدهٔ- د مد ضد- (م- عربی)-

جزع:(ج-زع)اسم- بې صبری- بې قلاری- ناقلاری- (م- عربی)-

جزع پزع:(ج-زع-پ-زع)اسم- د جزع فزع عامیانه قرآت- نارې سورې- چغې چغارې- ژړا انګولا- (م- عربی)-

جزغاله:(جز-غا-له)اسم- واحد- مؤنث- ککړۍ- کسکړ- بوګړی- کړوپے- خخلولے- جیجق- جغجغی- جزغولے- جمع جزغالې- (افغانستان)-

جزکے:(جز-کے)اسم صوت- وګورئ جز-

جزکی:(جز-کی)اسم- واحد بجمع- مؤنث- پوسکی- پسکه- باه-

جزکی مار:(جز-کی-مار)اسم صفت- واحد- مذکر- پوسکن- تسن- پسکارن- پسن-

جزکے:(جز-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)جشکے- شزکے- څڑکے- څزکے- خخکے- چشکے- کیشکے- ششوکے- زږکے- شوشم- ژزکے- شیشفے- د شکوڼ د خاندان یو وړوکے ښناور چې تېرهٔ تېرهٔ غشی لری ماران خوری او کوروتو کښې اموخته کیږي-

جزم:(ج-زم)اسم- واحد- مذکر- (۱)غورونډے- غوړنډے- وقفه- د تکی د ساکن کولو علامت- (۲)مضبوطه اراده- کلکه اراده- (۳)یقین- (م- عربی)-

جزو:(ج-زو)اسم- واحد- مذکر- برخه- بخره- حصه- ټکړه- جمع جزونه-

جزوبندی:(ج-زو-بن-دی)اسم- د کتاب جزونه بېلونه او ګنډنه- وګورئ جزبندی-

جزودان:(ج-زو-دان)اسم- واحد- مذکر- بسته- د کتابونو د اېښولو کڅوړه-

جزول:(ج-ز-ول)مصدر متعدی- (۱)کباب یا غوښه په غوړو کښې تلول- (۲)خوزول- آزارول-

جزوآ:(جز-ون)متعلق فعل- په ټکړه ټکړه- په برخه برخه- په نیمګړی پول- (م- عربی)-

جزون:(ج-ز-ون)حاصل مصدر- وګورئ جزول

جزونګ:(ج-ز-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ جزول-

جزونه:(ج-ز-ونه)حاصل مصدر- وګورئ جزول-

جزونکے:(ج-ز-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ جزول-

جزوی:(جز-وی)صفت/متعلق فعل- (۱)د جزو سره منسوب- نیمګړے- (۲)په نیمګړی پول-

جزغار:(جز-غار)اسم صوت- وګورئ جز-

جزیره:(ج-زی-ره)اسم- واحد- مؤنث- ټاپو- هغه وُچه چې ګېر چاپېره ئې اُبهٔ وی- جمع جزیرې او جزائر-(م- عربی)-

جزیره نما:(ج-زی-ره-نما)اسم- واحد- مذکر- ټاپووزمه- د ټاپو یا جزیرې په شان- هغه وُچه زمکه چې دریوو خواؤ ته ئې اُبه وی-

جزېل:(جز-ېل)اسم- واحد- مذکر- وګورئ جزائېل-

جزېلچي:(جز-ېل-چي)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ جزائېلچي-

www.pukhto.net

جزیه:(جز-یه)اسم- واحد- مؤنث- د اسلامي شریعت دَ لاندي هغه مقرره قلنګ چي ذمیان يُ اسلامي حکومت ته دَ سر او ناموس دَ سلامتیا ساتلو دَ پاره ورکوي-

جزیي:(جز-یي)صفت متعلق فعل- (۱)جزو ته منسوب- (۲)لږ- (۲)بیل- جلا- جُدا- (افغانستان)-

جزیدل:(ج-ږي-دل)مصدر لازم- (۱)سرهٔ کېدل- ورتېدل- تلېدل- (۲)خوربېدل- کړېدل- ازاربدل-

جزبدن:(ج-زي-دن)حاصل مصدر- وګورئ جزېدل-

جزبدنګ:(ج-زي-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ جزبدل-

جزبدنه:(ج-زي-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ جزبدل-

جزېدهٔ:(ج-زي-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراي دَ واحد غائب صیغه- وګورئ جزېدل-

جڑ:(جڑ)اسم- واحد- مذکر- چش بش- پڑ- جږ چوږ- دَ حلالې پهٔ وخت دَ حلالېدونکي څاروي دَ رېنې دَ وتو آواز-

جږ:(جږ)اسم صوت- وګورئ جز-

جږکے:(جږ-کے)اسم صوت- وګورئ جز-

جړکے:(ج-ړهٔ-کے)اسم- واحد- مذکر- جزکے- جشرکے- جشکے- شڑکے- کیشکے- ششرکے- ژڑکے- رڅکے-

جېږمه:(جېږ-مه)اسم- واحد- مؤنث- زېږمه- زېږمه- دَ سترګي هغه حصه چي بانهٔ پرې راشنهٔ کیږی- جمع جېږمې-

جږمار:(جږ-مار)اسم صوت- وګورئ جز-

جس:(جُس)اسم- واحد- مذکر- جست- یو شین بخن سپین دهات چي لېتمی نمبر يُ دېرش او فارمولا يُ Zn وی- (م- هندی)-

جس:(جس)اسم- واحد- مذکر- مضبوطي- پخوالے- همت-

جسارت:(ج-سا-رت)اسم- (۱)بهادري- زړهٔ ورتیا- دلیري- (۲)بې شرمي- بې حیائي- روتوب- کلک سترګي توب- (م- عربي)-

جسامت:(ج-سا-مت)اسم- واحد- مذکر- د جسیم کېدو حالت- حجم- غټوالے- پنډوالے- (م- عربي)-

جست:(جست)اسم- واحد- مذکر- (۱)وګورئ جُس (یو دهات)- (۲)ټوپ (فارسي جستن مصدر)-

جستجو:(جُس-ت-جو)اسم- واحد- مذکر- تلاش- لټون- طلب- لټونه- پلټنه- (م- فارسي)-

جستجوئ:(جُس-ت-جو-ئ)اسم- وګورئ جستجو-

جستوخېز:(جس-تو-خېز)اسم- ټوپونه- ترپکي- (م- فارسي)-

جسته:(جس-ته)اسم- واحد- مؤنث- جوتې- دَ پخواني زماني یو پول پېزار- (ش- هندي)-

جستي:(جس-تي)اسم صفت- د جست سره منسوب- لهٔ جستو جوړ شوے-

جسد:(ج-سَد)اسم- واحد- مذکر- (۱)تن- بدن- وجود- جسم- جُوثه- څټه-
پوے- پڑے- (۲)لاش- مړے- کالبوت- (م- عربي)-

جسر:(جسر)اسم صفت- واحد- مذکر- پرېږو اوښ- مست اوښ- جنګ اوښ-

جسر:(ج-سر)اسم- واحد- مذکر- پل- پهٔ اَبو دَ پوري وتو لار- (م- عربي)-

جسم:(ج-سم)اسم- واحد- مذکر- (۱)تن- بدن- وجود- شټه- پوے- کرګه- څان- (۲)دَ جیومیټري پهٔ اصطلاح کښې هغه څیز چي درې اعتداده (طول، عرض، بلندي)لري- (م- عربي)-

جسماني:(جس-ما-ني)صفت- جسمي- بدني- دَ جسم سره منسوب-

جسمي:(جس-مي)صفت- وګورئ جسماني-

جسور:(جس-ور)صفت- (۱)زړهٔ ور- د جسارت خاوند- (۲)سپین سترګے- بې شرمه- بې حیاء- رپسترګے- کلک سترګے-

جسه:(ج-سه)اسم- واحد- مؤنث- جوسه- جوثه- جثه- جمع جسې-

جسیم:(ج-سیم)صفت- جسم لرونکے- جسامت لرونکے- غټ- پېړ-

جسے:(ج-سے)اسم- واحد- مذکر- مسین کنټول- (۲- صفت)دَ جستو جوړ-

جشکے:(جش-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ جړکے-

جشن:(ج-شن)اسم- واحد- مذکر- د ښادي موقعه د عیش مجلس- پهٔ خاصو موقعو منعقد کېدونکے د خوشحالي مجلس- دَ ښادي محفل-

جشے:(ج-شے)اسم- واحد- مذکر- یو اَزغن بوټے چي پهٔ ګډو بزو او کېږو پوري سېلي- سپے بوټے- کوترے بوټے- جیشے-

جښجے:(جښ-جے)اسم- واحد- مذکر- د ډیر د علاقې یو عام بوټے چي د پښتونخوا پهٔ نورو علاقو کښې هم موندے شي-

جعبه:(جع-به)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ترکش- (۲)حابه- روک- (۲)صُندق- صندوق-

جعفري:(جع-فَ-ري)اسم- یو زېړرنګے ګل- ګل اشرفي- نباتاتي نوم لېنم تړاني جېنم (INUM TRIGYNUM)-

جعفري:(جع-فَ-ري)صفت- (۱)امام جعفر سره منسوب- شیعه- (۲)زیړ-

جعل:(ج-عل)اسم- واحد- مذکر- (۱)ټګي- فریب- دوکه- چل ول- (۲)جوړښت- بناوټ- (۲)ډیسي والے- ساخته کاري- (۴)دَ غوشایانو یا غشایانو کومکئ- (م- عربي)-

جعل ساز:(ج-عل-ساز)اسم صفت- واحد- مذکر- دوکه باز- دموکه باز- چل رلی- ټګ برګ- فریبي- (م- عربي/فارسي)-

جعل سازي:(ج-عَل-سا-زي)اسم- مؤنث- دَ جعل ساز کار او پېشه- ټګي- دوکه- فریب- چل ول- ټګي برګي-

جعلي:(جع-لي)صفت- نقلي- ډیسي- چي اصلي نهٔ وي-

جغ:(جغ)اسم- واحد- مذکر-خغ- ژغ- چوغ- د لرګي جوړه هغه اله چي د قلبې پهٔ وخت دَ غویانو پهٔ غاړه کښې اچولے شي- (ش- فارسي)-

جغ:(جغ)اسم صوت- وګورئ جز-

جعا:(ج-عا)اسم صوت- وګورئ حرمار-

جعات:(ج-عات)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کوبښ- مکه- (۲)تاوان- (۲)زحمت-

www.pukhto.net

تکلیف- ربړ- (افغانستان)-

جفاعه:(ج-عا-غه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)یوخوندرو بوټے- (۲)جعه- قرقره- د چرګ خندیے- چارخوبل- چارحلک- چارخولکه- دَ چرګ چرخول-

جفانعه:(ج-غان-غه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)یو بوټے چې د ابو په غاړه کیږی دَ هندوستان خلق ترې اچار اچوی او په پښتونخوا کښې ئې خلق په دارو کښې پکاروی- (۲)قرقره- د چرګ چارخولکه-

جفاول:(ج-غا-وَل)اسم- واحد- مذکر- امېل- هار- دَ مرغلرو یامشکنړو نه پړله جوړه چې دَ باز په غاړه کښې اچولے شی-

جفاولے:(ج-غاو-لے)اسم صفت- هغه مارغهٔ چې جفاول ئې په غاړه وی-

جغ سوز:(جغ-بور)اسم- واحد- مذکر- پیشوګی- پیشکی- دَ غنمو چنیجے-سپړی-

جغجغاسے (جغ-ج-غا-سے)اسم- واحد- مذکر- ژوژړی- غرندوز- د لرګی هغه ګرګرانے چې ماشومان ئې دَ سر نه تاووی او آواز ترې پورته کیږی-

جغجی:(جغ-جی)اسم- واحد جمع- مؤنث- چکی- چغزی- کیچی- مغز- خنو میوو د بهرنی خول په مینځ کښې بنده د خوړلو قابله حصه-

جغدیتوب:(جغ-دی-توب)اسم- (۱)وریتوالے- کبابېدنه- (۲)خرب والے- غټ والے- د خوانی د راتلو حالت-

جُغدے:(جُغ-دے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)وریت- سور کړے- (۲)غټ-خربه- نوے خوان- جمع جغدی-

جغرافی:(جغ-را-فی)صفت- جغرافیې ته منسوب- (۲)اسم- مؤنث- جغرافیه-

جغرافیا:(جُغ-را-فی-یا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ جغرافیه-

جغرافیائی:(جُغ-را-فی-یا-ئی)صفت- د جغرافیې سره منسوب- د جغرافیې سره تړلے-

جغرافیه:(جُغ-را-فی-یه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ جیاګرافی مضرب- (۲)جغرافیا- دَ زمکې علم- دَ زمکې صفت یا احوال بیانونه- (م- یونانی)-

جغرافیه دان:(جغ-را-فی-یه-دان)اسم صفت- واحد- مذکر- د جغرافیې عالم-

جغرے:(جغ-رے)اسم- نکولا- کوله- ونګا-

جغر:(ج-غر)اسم- واحد- مذکر- هغه ځائې چې ژور وی او اوبهٔ پکښې ودریږی-

جغر:(ج-غر)اسم صفت- مذکر- شلدلے کټ- جونګړ- جولنګی کټ- (۲)د ابو وړه کنده- پنډوکے-

جغرکے:(ج-غر-کے)اسم تصغیر- وګورئ جغر-

جغری:(جغ-ری)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دَ پیڅو دَ کټو سخا بوټی- دَ سخاوالی لهٔ کبله دَ پیڅو دَ کټو دَ لاندې خایونو چاؤدنه-

جغل:(ج-غل)اسم- جمع- مذکر- جغله- باجری- نری کانی-

جُغلندے:(جغ-لن-دے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ جغلنډے-

جُغلنډے:(جغ-لن-ډے)اسم- واحد- مذکر- جعونډے- ژغونډے- ژغنډے- دَ ژغ لرګے-

جغله:(ج-غ-له)اسم- واحد- مؤنث- جغل- ژغل- نری کانی- باجری- ریګ-

جغن پړے:(جغ-غن-پړ-ے)اسم- واحد- مذکر- سربانړے- سربانډے- هغه پړے چې جغ پرې پوی سره تړلے کیږی-

جغندر:(ج-غن-در)اسم- واحد جمع- مذکر- جوغندر- چقندر- لبلبو- د ټیپر دَ خاندان فصل چې چینی ترې جوړولے شی اوبو قسم ئې دَ سلاد په شان هم خوړلے شی- نباتاتی نوم بیټا ول ګیرس(BETA VULGARIS)-

جغنو:(جغ-غنو)اسم- واحد- مذکر- (۱)ژغنو- دَ متی منو- جوغنو- (۲)برعنو- (۳)صنخ- موږے- (۴)دَ ونې هغه برخه چې په تېره ځیز وهلے شوی او بیوه برخه ئې ژوره شوی وی-

جغنډے:(ج-غن-ډے)اسم- واحد- مذکر- جغلنډے- هغه لرګے چې په جغ کښې ورکولے شی او د هغې په وجه د غونی کټ په جغ کښې بند وی-

جغنی:(جغ-نی)اسم- واحد جمع- مؤنث- ورژغونے- ژغونے-

جغنی:(جغ-نی)اسم- واحد جمع- مؤنث- لګ لګ- جغونډے- یو مارغهٔ-

جغول:(ج-غ-ول)مصدر متعدی- (۱)سوځول- په زوره نغوښتل- په زوره ورمنډل- (۲)په جغ کول-

جغون:(ج-غ-ون)حاصل مصدر- وګورئ جغول-

جغونکے:(ج-غ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ جغول-

جغونګ:(ج-غ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ جغول-

جغونه:(ج-غ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ جغول-

جغه:(ج-غه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ یو بوټی نوم- (۲)قرقره- تاج- (۳)شمله- طره-

جغه:(ج-غه)اسم- واحد- مؤنث- جغه- چوغه- لوئې کوټ-

جغېدل:(ج-غې-دَل)مصدر لازم- په زور نغوښتل- په زور ورمنډلے کېدل- سوځېدل-

جغېدلے:(ج-غې-دَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ جغېدل-

جغېدن:(ج-غې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ جغېدل-

جغېدنګ:(ج-غې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ جغېدل-

جغېدنه:(ج-غې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ جغېدل-

جغېدونکے:(ج-غې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ جغېدل-

جغېدهٔ:(ج-غې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ جغېدل-

جغی:(ج-غی)اسم- واحد جمع- مؤنث- زامبېل- پولی- خولی-

جغے:(ج-غے)اسم- واحد- مذکر- د لرګی جوړ چوکاټ-

جفا:(ج-فا)اسم- واحد- مؤنث- د وفا ضد- ظلم- زیاتے- سختی- جمع جفاګانې- (م- عربی)-

جفاجویه:(ج-فا-جو-یه)اسم صفت- دَ جفا موقعه لټونکے- وګورئ جفاکار- (م- عربی/فارسی)-

جفاخویه:(ج-فا-خو-یه)اسم صفت- د جفا خونی لرونکے- (م- عربی/فارسی)-

جفاکار:(ج-فا-کار)اسم صفت- واحد- مذکر- ظالم- ستمګر- بې رحمه

سخت زړے- جفا کونکے- (م- عربي فارسي)-
جفاکاري:(ج-فا-کا-ري)اسم- د جفاکار کېدو حالت- سختي- ظلم- بې وفائي- بدخوئي- سخت زړۀ توب- (م- عربي فارسي)-
جفاکش:(ج-فا-کش)اسم صفت- مذکر- خواري کښ- محنت کش- محنتي- (م- عربي فارسي)-
جفاکشي:(ج-فا-ک-شي)اسم- د جفاکش کېدو حالت- زيار- محنت- خواري کښي-
جفت:(جُفت)اسم- واحد- مذکر- جوړه- غبرګ- برغ- غبرګ- د طاق ضد- (فارسي)-
جفتک:(جُف-تک)اسم- واحد- مذکر- په ورستيو دوو پښو ټوکر- جفتګ (م- فارسي)-
جفتکه:(جُف-ت-که)متعلق فعل- په جوړو- په جُختو پښو- په دواړو پښو- لکه په جختو ټوپ وهل يا په جوړو تړل-
جفتي:(جُف-تي)اسم- جماع- د نر او ښځې سره يو ځاې کېدل (م- فارسي)-
جفر:(ج-فر)اسم- واحد- مذکر- علم جفر- د يو داسې علم نوم چې پکښې د قسمت د حال د معلومولو دعوىٰ کيږي- (م- عربي)-
جق:(جق)اسم- واحد- مذکر- جک- بکواس- فضول خبره- (م- فارسي)-
جق:(جق)اسم صوت- د سوک په زوره د ګوذار آواز-
جق جق:(جق-جق)اسم- واحد- مذکر- چتى او عبث خبرې- (م- فارسي)-
جقر:(ج-قر)اسم- واحد- مذکر- بې شماره يا ډېرې پيسې لګېدنه يا د يو څيز بې خرڅه استعمال-
جقه:(ج-قه)اسم- واحد- مؤنث- ګڼه ګوڼه- ګڼ ګوڼ- د خلقو ګڼه- جګه-
جقه جوقه:(ج-قه-جو-قه)اسم- وګورئ جقه-
جک:(جک)اسم- واحد- مذکر-(۱) جک- جبک- (۲)بکواس- فضول خبره- عبث خبره- په دېر معنو کېږي يا د جق معنى دے او يا د هندي له جبک سره ربط لري-
جک:(جک)اسم- واحد- مذکر- (۱)د ابو د مور(يو قسم چيچے)يو قسم چې زوړې زوړې پښې لري- (۲)خګ- (۳)د شوملو شاربلو چاټي-
جګ:(جګ)اسم صفت- جګ لوړ- دنګ- ډينګ- هسک- وچت- جيګ-
جګ جوړ:(جګ-جوړ)اسم صفت- واحد- مذکر- جګ جوړ- روغ رمټ- ښيښې روغ- رګ روغ-
جکړ:(ج-کړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)جاکړ- باد وباران- ځول- طوفان- (۲)تباهي- بربادي- خرابي- (ش- صدی)-
جکړ:(ج-کړ)اسم صفت- مذکر- ناراسته- لټ- بې کاره-
جکړو:(ج-ک-ړو)اسم صفت- شاتو- کم عقله ښځه- (افغانستان)-
جکول:(ج-ک-ول)مصدر متعدي- (۱)په عبث خبرو وخت ضائع کول- (۲)راکښل- زور لګول- د مېښې په وجه په زور ايسارول- (افغانستان)-
جکون:(ج-ک-ون)حاصل مصدر- وګورئ جکول-

جکونکے:(ج-ک-ون-کے)اسم فاعل واحد- مذکر- وګورئ جکول-
جکونګ:(ج-ک-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ جکول-
جکونه:(ج-ک-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ جکول-
جکه:(جک-که)صفت- ښه- ځلامخ- دلېره-
جکه جکه:(ج-که-ج-که)اسم- ډېرې يا زوړې خبرې- لوئ بحث- بې معنې او عبث خبرې-
جکېدل:(ج-کې-دل)مصدر لازم- زور لګېدل- راکښل کېدل- د خان خلاصولو د پاره زور لګېدل-
جکېدن:(ج-کې-دن)حاصل مصدر- وګورئ جکېدل-
جکېدنګ:(ج-کې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ جکېدل-
جکېدنه:(ج-کې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ جکېدل-
جکېدونکے:(ج-کې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ جکېدل-
جکېده:(ج-کې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ جکېدل-
جکي:(ج-کي)اسم- واحد جمع- مؤنث- لومه- دام- پرکه- جال- لومکه-
جګ:(جګ)اسم صفت- (۱)لوړ- دنګ- ډينګ- جګ- جګ- (۲)ولاړ- لګ نېغ-
جګ:(جګ)اسم- واحد- مذکر- د ابو لوښے جيګ- (م- انګريزي)-
جګاړ:(ج-ګاړ)اسم- واحد- مذکر- لويه جګړه- جمع جګاړونه- (افغانستان)-
جګتوب:(جګ-توب)اسم- لوړوالے- دنګ والے- وچتوالے- جګتيا- جګوالے-
جګتوڼ:(جګ-تو-ڼ)اسم- د افغانستان يوه فوځي عهده- (افغانستان)-
جګتيا:(جګ-تيا)اسم- وګورئ جګتوب-
جګ جګ:(جګ-جګ)اسم صوت- جګ جګ- تېغ تېغ- هغه مخصوص لوار چې د غوا مېښو د مال کولو په وخت سندا يا غوني ته کړلے شي-
جګ جګانے:(جګ-ج-ګا-نے)اسم- (۱)وګورئ جګ جګانے- (۲)توقه- وشته- دبکه-
جګ جګان:(جګ-ج-ګان)اسم- د پښو په ګوتو يا پنجو ودرېدنه- په نوکونو ودرېدنه-
جګ جګانے:(جګ-ج-ګا-نے)اسم- جګ جګے- شکشکه- د اوسپنې جوړ غشے چې د چرګانو بنې پکښې لګېدلې وي او نيغه پرې ويشتے شي-
جګ جګے:(جګ-ج-ګے)اسم- وګورئ جګ جګانے-
جګجګو:(جګ-ج-ګو)کلمه- خوشامندي-
جګ جګي:(جګ-ج-ګي)اسم- جمع مذکر- د ښتارو ښکرونه- (افغانستان)-
جګ جګيا:(جګ-جګ-يا)کلمه- جګي جګي- خوشامندي- جيګي جيګي-
جګ جګي:(جګ-ج-ګي)کلمه- (۱)جګي- ځار ځار- ګجي ګجي- جګي جګي- (۲)سکڅکي-
جګ جوړ:(جګ-جوړ)اسم صفت- صحتمند- روغ رمټ- جګ جوړ- تندرست-
جګ خلي:(جګ-ج-لي)اسم- واحد- مؤنث- اسمان خلي- هغه توپه چې ځنګي څپاروونه پرې ويشتلے شي- (افغانستان)-

ي- (ښي-رل)، ې (هې-ره-ول)، ئ (ويا-ئي)، ۍ (تن-ۍ) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

جګر:(ج-ګر)اسم- واحد- مذکر- ځیګر- اینه-

جګرتوکے:(ج-ګر-تو-کے)اسم- د ځیګر ټوټه- د جګر ټکړه-

جګرخون:(ج-ګر-خون)اسم- ځیګرخون- خواري- محنت-

جګرخوني:(ج-ګر-خو-ني)اسم مؤنث- ځیګر خوني- تکلیف- خواري-

جګري:(ج-ګ-ري)صفت- دٔ ځیګر- دٔ ځیګر متعلق-

جګړ:(ج-ګړ)اسم صفت- د باز یو قسم- (افغانستان)-

جګړ:(ج-ګړ)اسم- واحد- مذکر- شېر- کوپله- کمزوری- خارخانه- (افغانستان)-

جګړابو:(جګ-ړا-بو)اسم صفت- واحد- مذکر- لوړ- دٔ دنګې ونې سړے- ډېر دنګ-

خنبه:(خَم-بَه)اسم۔ باتهٔ رپونه۔ سترګه وهنه۔ سترګې خبونه۔

خنبېدل:(خَم-بې-دَل) مصدرِ لازم۔ سترګې زنبېدل۔ سترګې رپېدل۔ باتهٔ رپېدل۔ باتهٔ بنوربدل۔ خوځېدل۔ رکېدل۔ رقېدل۔

خنبېدلے:(خَم-بې-دَهٔ-لے)اسمِ مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ جمع خنبېدلي۔ مؤنث خنبېدلې۔ وګورئ: خنبېدل۔

خنبېدن:(خَم-بې-دَن) حاصلِ مصدر۔ وګورئ: خنبېدل۔

خنبېدنګ:(خَم-بې-دَنګ)حاصلِ مصدر۔ وګورئ: خنبېدل۔

خنبېدنه:(خَم-بې-دَهٔ-نَه)حاصلِ مصدر۔ وګورئ: خنبېدل۔

خنبېدونکے:(خَم-بې-دُون-کے)اسمِ فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ: خنبېدل۔

خنبېدهٔ:(خَم-بې-دَهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه۔ وګورئ: خنبېدل۔

خنځ:(خَنځ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ خوری۔ پېکنے۔ زنځ۔ زنځ۔ زمچ۔ پېکړے۔ پېکړے۔

خنخراڼ:(خَن-خَه-راڼ)صفت۔ خړ برګ (الکه بېړ)۔

خنخړئ:(خَن-خَهٔ-رَئ)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ یو خاص قسم ګل کاري یا نقش چې د زنځیر په شان کړې کړې وي۔

خنخلیږ:(خَنځ-لیږ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ یو قسم تور ځنبے چې دَ بنګلا دَ پاره په کېږدي باندې خوړندولے شي۔

خنخول:(خَن-خَهٔ-وَل)مصدرِ متعدي۔ ځاګکے ځاګکے توږول۔ ټکے ټکے توږول۔ ټکول۔ ورو ورو نجوړي کول۔ په شومتیا سره څهٔ څیز چا ته ورکول۔ کم څیز ورکول۔ لږ څهٔ ورکول۔ تکلیف ورکول۔

خنخولي:(خَن-خو-لي)اسم۔ پنهولي۔ څهٔ څیز په ځلورو ګسانو اخستل۔ څهٔ څیز په ځادر کښې اخستل۔ یو سړے د لاسونو او پښو نه په ځلورو ګسانو اخستل۔

خنخولے:(خَن-خَهٔ-وَهٔ-لے)اسمِ مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ: خنخول۔

خنخون:(خَن-خَهٔ-وَن)حاصلِ مصدر۔ وګورئ: خنخول۔

خنخونکے:(خَن-خَهٔ-وُون-کے)اسمِ فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ: خنخول۔

خنخونګ:(خَن-خَهٔ-وَنګ)حاصلِ مصدر۔ وګورئ: خنخول۔

خنخونه:(خَن-خَهٔ-وَهٔ-نَه)حاصلِ مصدر۔ وګورئ: خنخول۔

خنخوهٔ:(خَن-خَهٔ-وَهٔ)حاصلِ مصدر۔ وګورئ: خنخول۔

خنکه:(خَن-کَه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)سرسوبله۔ شوبله۔ زنګه۔ شوبلکه۔ سرسوبنده۔ یو قسم پنجه وره حشره۔ (۲۔ صفت)الاچي۔ جنجالي سړے۔ چیچړ بنیادم۔ ضدي۔ ځېلي۔

ئ (ښی-رل)، ې (مې-رهٔ-ول)، ي (پیا-لې)، ے (تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ: تشریحات صفحه ۱

خنخېدل:(خن-خې-دل)مصدر لازم- خخېدل- ځانګکے ځانګکے توښېدل-
خنخېدلے:(خن-خې-دځلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ خنخېدل-
خنخېدن:(خن-خې-دن)حاصل مصدر- وګورئ خنخېدل-
خنخېدنګ:(خن-خې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ خنخېدل-
خنخېدنه:(خن-خې-دځنه)حاصل مصدر- وګورئ خنخېدل-
خنخېدونکے:(خن-خې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ خنخېدل-
خنخېدهٔ:(خن-خې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ خنخېدل-
خنخي:(خن-خي)اسم- واحد- مؤنث- زنځيرک- دَ ښځو يو قسم ګاڼه (کالے)-
خنخول:(خن-خول)اسم- لهٔ حاله تلنه- په زړهٔ باندې دَ خفګان چهه- بې سدي- بې هوشي- بې خودي- په زړهٔ باندې پرېشاني راتلنه-
خندر:(خن-دَر)اسم- ګړی-
خنډ:(خنډ)اسم- واحد- مذکر- ايسارتيا- ځېل- تاخير- درنګ- معطلي- ډېري- ډېره موده تېرېدنه- ډېر ساعت تېرېدنه-
خنډان:(خن-ډان)اسم صفت- جمع- مذکر- زاړهٔ لرغوني- دَ ډېر وخت-
خنډمن:(خنډ-مَن)اسم صفت- واحد- مذکر- ټال شوے- ناوخته شوے- اټال شوے- خنډن- معطل شوے- دَ ځېل وخت نه وروستو پاتې شوے-
خنډن:(خن-ډن)اسم صفت- واحد- مذکر- وړاندنيے- مخکښينے- پخوانے- لرغونے- قديمي- دَ ډېرې مودې- خنډمن-
خنډنے:(خن-ډځنے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)لرغونے- پخوانے- وړاندينے- قديمي- وختينے- (۲)اټال- ايسار- معطل-
خنډنے کوکو:(خن-ډځنے-کو-کو)اسم- واحد- مذکر- يو قسم ګل- پتونے ګل-
خنډوالے:(خنډ-والے)اسم- ټالېدنه- اټالېدنه- ناوخته والے- خنډېدنه- معطلي- معطلېدنه- خنډېدنه- دَ ځېل وخت څخه اوښتنهٔ- ايسارتيا- ځېل-
خنډول:(خن-ډ-ول)مصدر متعدي- ټالول- ايسارول- ناوخته کول- اټالول- معطلول- دَ ټاکلي وخت څخه زيات وخت ورباندې تېرول-
خنډولے:(خن-ډ-وځلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ خنډول-
خنډون:(خن-ډ-ون)حاصل مصدر- وګورئ خنډول-
خنډونکے:(خن-ډ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ خنډول-
خنډونګ:(خن-ډ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خنډول-
خنډونه:(خن-ډ-وځنه)حاصل مصدر- وګورئ خنډول-
خنډوهٔ:(خن-ډ-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ خنډول-
خنډي:(خن-ډي)اسم- جمع- مذکر- هغه غوټې چې دَ څادر يا رومال پيڅکو ته دَ ښکلا او مضبوطوالي دَ پاره ورکولے شي-
خنډېدل:(خن-ډې-دل)مصدر لازم- اټالېدل- ايسارېدل- ناوخته کېدل- ټالېدل- معطلېدل- دَ ځېل وخت نه زيات وخت ورباندې تېرېدل-
خنډېدلے:(خن-ډې-دځلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ خنډېدل-
خنډېدن:(خن-ډې-دن)حاصل مصدر- وګورئ خنډېدل-
خنډېدنګ:(خن-ډې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ خنډېدل-
خنډېدنه:(خن-ډې-دځنه)حاصل مصدر- وګورئ خنډېدل-
خنډېدونکے:(خن-ډې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ خنډېدل-
خنډېدهٔ:(خن-ډې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ خنډېدل-
خنډے:(خن-ډے)اسم- واحد- مذکر- بوټکه- بوډی- چوټے-
خنغلي:(خن-غَ-لي)اسم- جمع- مذکر- زنګلي- زوړ پرتوګ ته دَ ښهې نه ښکته دَ زوړې کهړې پائڅې اچول-
خنغوخه:(خن-غو-خه)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم وَنه-
خنغوزے:(خن-غو-زے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چلغوزے-
خنکدن:(خن-کَه-دن)اسم- واحد- مذکر- آخري سلګی- دَ مرګ حالت- ځکندن- زلکدم- آخر وخت- خلکدم- دَ نزعې حالت- دَ ژوند آخري سلګی- اخېر- ګران ساعت- سا وتنه- دَ مرګېدو حالت-
خنکندن:(خن-کن-دن)اسم- واحد- مذکر- وګورئ خنکدن-
خنګر:(خن-ګر)اسم صفت- واحد- مذکر- بې سده- بې خوده- بې هوشه- بې حسه- بې هوښه-
خنګل:(خنګ-ګل)مصدر متعدي- په ټال جوړتې وهل-
خنګل:(خنګ-ګل)اسم- واحد- مذکر- هغه ځائې چې زياتې او ګنې وَنې لري- ښنجر او شاړ ځائې- دښت- خاورے- درګه-
خنګل ځېرے:(خنګ-ګل-ځې-رے)اسم- واحد- مذکر- (۱) يو قسم تريخ بوټے چې دَ ځېټې دَ درد دَ پاره پکارولے شي- (۲)يو قسم ګياه چې ګاروی ئې خوري-
خنګل کړی:(خنګ-ګل-کَه-ړی)اسم- واحد- مؤنث- هغه ځائې چې دَ خنګل ساتونکے پکښې وسيږي- جونګړه-
خنګلي کربوړے:(خنګ-ګه-لي-کر-بو-ړے)اسم صفت- واحد- مذکر- سره خله لرونکې دَ چرمښکې نه لږ ورکوټے شان خزنده چې زياتره په خنګلونو کښې موندے شي-
خنګله:(خنګ-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وګورئ جنګله- (۲)باړ- ويړه-
خنګوتې:(خنګ-ګو-تې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- الامو- ټالي وهنه- خنګونه-
خنګوړے:(خنګ-ګو-ړے)اسم- واحد- مذکر- دَ انګورو واښکے ونډورے- دَ انګورو ونګالے- دَ انګورو وږے-
خنګول:(خنګ-ګ-ول)مصدر متعدي- (۱)ژوړند ځيز ته حرکت ورکول- (۲)ټالول- ټال متهول کول- ځبره وړدول- لم لېټ کول- انې بانې کول-
خنګولے:(خنګ-ګه-وځلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ خنګول-
خنګون:(خنګ-ګه-ون)حاصل مصدر- وګورئ خنګول-
خنګونکے:(خنګ-ګه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ خنګول-
خنګونګ:(خنګ-ګه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خنګول-

www pukhto net

خنګونه:(خَنګ-ګَه-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ خنګول-

خنګوهٔ:(خَنګ-ګَه-وَهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ خنګول-

خنګويه:(خُنګ-ګو-يه)اسم- مؤنث- وګورئ اتڼي-

خنګېدل:(خَنګ-ګې-دَل)مصدر لازم- (۱)اتڼېدل- يو زورند څيز ته حرکت ورکېدل- (۲)خيره وړپدېدل-

خنګېدلے:(خَنګ-ګې-دَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ خنګېدل-

خنګېدن:(خَنګ-ګې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ خنګېدل-

خنګېدنګ:(خَنګ-ګې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ خنګېدل-

خنګېدنه:(خَنګ-ګې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ خنګېدل-

خنګېدونکے:(خَنګ-ګې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ خنګېدل-

خنګېدهٔ:(خَنګ-ګې-دهٔ)حاصل مصدر او دٔ ماضي استمراري دٔ واحد غائب صيغه- وګورئ خنګېدل-

خنل:(خَ-نَل)مصدر متعدي- سورے کول- پهٔ څهٔ څيز سورے پکښې جوړول-

خني:(خَه-ني)ضمير ربطي (۱)سره- څخه- ورڅخه- تري نه- ورنه- (۲)بعضې- بعض- ځينې-

خني خني:(خَه-ني-خَه-ني)اسم مرکب- بعضي بعضې- يو نيم- خني- خال خال- کم کوز- يو يو- بعضې نيم- لږ لږ- کله نا کله-

خني غوزے:(خَن-غو-زے)اسم- واحد- مذکر- خن غوزے- چلغوزه- غوزنځے- غوزنځے- جمع خني غوزي- نباتاتي نوم دٔ پاره وګورئ چلغوزے-

خنځکے:(خَن-ځکے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ژنکے-

خنے:(خَه-نے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ژنے- ځنے- ويرکے- ملک- (۲)ځنځکے- ژنکے- خړے- تخم- زړے- زنے- جمع خنی-

خو:(خو)دٔ جمع متکلم صيغه- (۱)مونږ روان يو- درومو- (۲)دٔ اجازت اخستو کلمه- لکه مونږ خو يعني لاړ شو-

خواب:(خُ-وَاب)اسم- واحد- مذکر- (۱)جواب- حال احوال معلومېدنه- (۲)خبرګون- دٔ پښتنې خواب- (۲)رَدول- پهٔ نفي کښې جواب ورکونه- (۴)اری- ايری-

خواب ګر:(خُ-واب-ګر)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ خواب لوڅے-

خواب لوڅے:(خُ-واب-لو-څے)اسم صفت- واحد- مذکر- حاضرخواب- خواب ګر- خوابی- حاضرجواب-

خوابی:(خُ-وا-بي)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ خواب لوڅے-

خوال:(خُوال)اسم- واحد- مذکر- سبک- جوګه- توغ- لل- (افغانستان)-

خواله:(خُوا-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خوازله- خواونه- ښوروا- خومنه- خومنه- (۲)خواله- دٔ اربشو دٔ اوړو نه جوړ هغه غټي چې ښخوا به يې پهٔ پيلانو خوړل- (۲)دٔ ښوروا دٔ پاره غټه غټه يا تر اندازې زياته ووړی ميده کونه- (۴)خونه- زونه- زلمينه- (افغانستان)-

خوان:(خُوان)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ځلمے- بالغ شوے- ژنے- ژنکے- بالغ- زلمے- (۲)سخی- (۳)موخی- (۴)ميړهٔ- تکړه- ميړنے- بهادر- زړهٔ ور-

خوان توب:(خُوان-توب)اسم- واحد- مذکر- (۱)ځوان والے- ځواني- (۲)بهادري- زړهٔ ورتوب- ميړانه- مړانه- (۲)سخي توب-

خوان ځلمے:(خُوان-ځل-مے)اسم صفت- واحد- مذکر- بالغ- خبردار- پهٔ ښهٔ بد پوه- وګورئ خوان-

خوانکه:(خُوا-نه-که)اسم- واحد- مؤنث- ګرمکه- ګرمکی- ستو- هغه دانه چې د ځلميتوب پهٔ وخت کښې پهٔ مخ راخيژي- جمع خوانکې-

خوانکۍ:(خُوا-نه-کۍ)اسم تصغير- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ خوانکه-

خوانکے:(خُوا-نَ-کے)اسم تصغير- واحد- مذکر- دٔ خوان نه اسم تصغير- ځلموټے- خوان- نوجوان- زلمے- زلموټے- خوان- زلمکے- نوے زلمے- ځلمے- ژنکے- ژنے-

خوانګه:(خُوانګ-ګه)اسم- چيچنه- سکونونه- سکوندارہ لګونه-

خوانمرد:(خُوان-مَرد)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ميړنے- نر- بهادر- خوان- ميړنے- زړهٔ ور- غيرتي- (۲)سخي- (۳)پروړي مار-

خوانمردي:(خُوان-مَر-دي)اسم- مؤنث- (۱) زړهٔ ورتوب- نرتوب- جوانمردي- مړانه- بهادري- سخاوت- (۲)پروړي ماري-

خوانمرګی:(خُوان-مَر-ګي)اسم مرکب- د ځواني مرګ- ځوانيمرګی- پهٔ ځلميتوب کښې مړينه- نيمه خوا کېدنه-

خوانمرد:(خُوان- مَرد)اسم صفت- واحد- مذکر- ځوانمرد- ځوان- نر- غيرتي- چې دٔ ښې ځواني صفت پکښې وي-

خوانول:(خُوا-نَ-وَل)مصدر متعدي- خوان کول- طاقت ورکول- جوانول-

خوانون:(خُوا-نَ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ خوانول-

خوانونکے:(خُوا-نَ-وُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ خوانول-

خوانونګ:(خُوا-نَ-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ خوانول-

خوانونه:(خُوا-نَ-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ خوانول-

خوانوهٔ:(خُوا-نَ-وَهٔ)حاصل مصدر- وګورئ خوانول-

خوانه خواني:(خُوا-نه-خوا-ني)اسم- دٔ ځواني عمر- دٔ ځواني ورځې- دٔ ځوانی موده- پهٔ ځواني کښې-

خواني:(خُوا-ني)اسم- مؤنث- (۱)ځلميتوب- ژنيتوب- جواني- (۲) ښهٔ ځواني- ښهٔ ځلميتوب- (۲)ښکلا- (۴)قوت او طاقت- شباب- مړانه- مروت-

خوانيمرګ:(خُوا-ني-مَرګ)اسم صفت- واحد- مذکر- پهٔ ځواني کښې مړ- نيمه خوا- ځوانيمرګے-

خوانېدل:(خُوا-نې-دَل)مصدر لازم- (۱) خوان کېدل- ژنے کېدل- ځلمے کېدل- (۲)طاقت او قدرت موندل-

خوانېدن:(خُوا-نې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ خوانېدل-

خوانېدنګ:(خُوا-نې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ خوانېدل-

خوانېدنه:(خُوا-نې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ خوانېدل-

ئ:(ځی-رل)، ې:(هې-رَه-وَل)، ی:(پيا-لي)، ے:(تن-دے) تفصيل دٔ پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www pukhto net

خواښېدونکے:(خوا-ښې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ خواښېدل-

خواښېدهٔ:(خوا-ښې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ خواښېدل-

خواوله:(خواؤ-له)اسم- مؤنث- وګورئ خواله-

خواوه:(خواؤ-ىه)اسم- مؤنث- وګورئ خواله-

خوبل:(خو-بل)اسم صفت- وګورئ جوبل-

خوت:(خوت)اسم- مذکر- جوت- جُفت- توکي- جوړې- جوړه-

خوته:(خو-ته)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ جوته-

خوږ:(خوږ)اسم- واحد- مذکر- یو قسم ازغن بوټے چې اوښان يې خوري- خوږ- سوږ- راښے- تنده-

خوخي:(خو-خي)اسم- جمع- مذکر مونث- جوجه ماجوجه- جوجي ما جوجي- خوخي ماخوخي- جوج ماجوج- یاجوج ماجوج- کوټ بنګار-

خوخي ماخوخي:(خو-خي-ما-خو-خي)اسم- جمع- مذکر مؤنث- وګورئ جوج ماجوج-

خوخ خانه:(خوخ-خانه) اسم- واحد- مؤنث- چوپال-

خور:(خمور)اسم- مذکر- تکلیف- کړاو- کړاؤ- رنځ- ازار- درد-

خور:(خنور)اسم- واحد- مذکر- جور- ظلم- جبر-

خور:(خور)اسم- واحد- مذکر- (۱)ژر اوریدونکے- زر اورېدونکے- تېرهٔ غوږے- تېز اورېدونکے - پهٔ غوږو وخک- (۲)نسبتاً هوښیار- پوه- خیرک- (۳)دانا- متوجه-

خورابه:(خو-را-به)اسم- واحد- مؤنث- جرابه- جورابه- جرابه- جوروپه- جلابه- جروپه- جمع خورابې-

خورتوب:(خور-توب)اسم- واحد- مذکر- تېز اورېدنه- خورتیا- ژر اورېدنه- (۲)هوښیاري- پوهه- متوجه کېدنه- خوروالے- دانائي- تیاء-

خورتیا:(خور-تیا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ خورتوب-

خورظلم:(خور-ظ-لم)اسم(مرکب) زور ظلم- زور زیاتے- تاړاک- تېرے-

خورن:(خو-رن)اسم- پهٔ خاي شلول-

خوړل:(خو-ړل)مصدر متعدي- (۱)ظلم کول- زیاتے او جبر کول- (۲)ازارول- کړول- تکلیفول- رنځول- پهٔ عذابول- ځاورول-

خورول:(خو-رول)مصدر متعدي- (۱)تېز اورول- ژر اورول- (۲)پوهول- دانا کول- هوښارول- (۳)متوجه کول- (۴)مصمول-

خورولے:(خو-ر-وهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ خورول-

خورون:(خو-رون)حاصل مصدر- وګورئ خورول-

خورون:(خو-رون)حاصل مصدر- وګورئ خورول-

خورونکے:(خو-ر-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ خورول-

خورونکے:(خو-ر-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ خورول-

خورونګ:(خو-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خورول-

خورونګ:(خو-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خورول-

خورونه:(خو-ر-وه-نه)حاصل مصدر- وګورئ خورول-

خوروېه:(خو-ر-وه-نه)حاصل مصدر- وګورئ خورول-

خوروهٔ:(خو-ر-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ خورول-

خوروهٔ:(خو-ر-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ خورول-

خوره:(خو-ره)اسم- مؤنث- هضمېدنه- هضمونه- هضم-

خورېدل:(خو-رې-دل)مصدر لازم- دړدېدل- زورېدل- پهٔ عذابېدل- تکلیف رسېدل- عمژن کېدل- غمژنېدل-

خوردل:(خو-ري-دل)مصدر لازم- (۱)هضمېدل- حلېدل- حل کېدل- (۲)لګېدل-

خوربدلے:(خو-ري-دهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ خورېدل-

خوردلے:(خو-ري-دهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ خورېدل-

خورېدن:(خو-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ خورېدل-

خوربدن:(خو-ري-دن)حاصل مصدر- وګورئ خورېدل-

خوردنګ:(خو-ري-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ خوربدل-

خوردنګ:(خو-ري-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ خورېدل-

خورېدنه:(خو-رې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ خورېدل-

خوردنه:(خو-ري-دنه)حاصل مصدر- وګورئ خورېدل-

خوردونکے:(خو-ري-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ خوربدل-

خوربدونکے:(خو-ري-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ خورېدل-

خوردهٔ:(خو-ري-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ خوردل-

خورېدهٔ:(خو-رې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ خورېدل-

خورے:(خو-رے)اسم- تکلیف ورکونه- دردمند کونه-

خوړ:(خوړ)اسم صفت- مخ پهٔ بکته- اترائي- خوبړ- د چړائي ضد- خوبړے- د لوړ ضد-

خوړتوب:(خوړ-توب)اسم- واحد- مذکر- خوړوالے- خوړتیا- مخ پهٔ ښکته والے-

خوړتیا:(خوړ-تیا)اسم- مؤنث- وګورئ خوړتوب-

خوړند:(خو-ړند)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)زېړېدونکے- کوږے- ځوړند- ځړول شوے- زړېدلے-اوېزان- اوېزاند- بانده- نېتے- پاس- اتال-

خوړندتوب:(خو-ړند-توب)اسم- مذکر- خوړندتیا- اوبراندېدنه- اتالېدنه- خوړندوالے-

خوړندتیا:(خو-ړند-تیا)اسم- مؤنث- خوړندوالے- اوېزاندېدنه- اتالېدنه-

خوړندوالے:(خو-ړند-والے)اسم- مذکر- خوړندتیا- خوړندېدنه- خوړندتوب-

خوړندول:(خو-ړن-ده-ول)مصدر متعدي- اوبزاندول- ځړول- للول- کوږی کول- ځوبړندول- اتالول- بانده کول-

خوړندون:(خو-ړن-ده-ون)حاصل مصدر- وګورئ خوړندول-

زبر"(ح-ىـهٔ-سره)، زوورکے"(شل)، پیش"(تو-کا-سره)، زیر"(ک-سا-ب) حروم (شکوب) "*"(ز-ډه) هٔ (ېو-سې-دهٔ)

www.pukhto.net

خوړندونکے:(خوَ-ړن-دہ-وُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ خوړندول-

خوړندونګ:(خو-ړن-دہ-وُنګ)حاصل مصدر- وګورئ خوړندول-

خوړندونه:(خو-ړن-دہ-وُ-نه)حاصل مصدر- وګورئ خوړندول-

خوړندوۀ:(خو-ړن-دہ-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ خوړندول-

خوړنده:(خو-ړن-ده)اسم صفت- واحد جمع- مذکر مؤنث- اوېزانده-

خوړندېدل:(خو-ړن-دې-دل)مصدر لازم- اوېزاندېدل- ځړېدل- کوړی کېدل- بانوه کېدل- اتالېدل-

خوړندېدن:(خو-ړن-دې-دن)حاصل مصدر- وګورئ خوړندېدل-

خوړندېدنګ:(خوَ-ړن-دې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ خوړندېدل-

خوړندېدنه:(خو-ړَن-دي-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ خوړندېدل-

خوړندېدونکے:(خوَ-ړن-دي-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ خوړندېدل-

خوړندېدۀ:(خو-ړن-دي-دۀ)حاصل مصدر- وګورئ خوړندېدل-

خوړندے:(خوَ-ړن-دے)اسم- واحد- مذکر- پۀ کور کښې د ټوکرئ کړلاڅی پۀ شان راځوړند څیز چې سامان پکښې ایښودل کیږي- کوړے-

خوړوالے:(خوَړ-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ خوړتوب-

خوړوبے:(خو-ړو-بے)اسم- واحد- مذکر- خړوبے- جړوبے- زاوۀ- آبشار-

خوړول:(خوَ-ړ-ول)مصدر متعدی- (۱)مخ ښکته کول- سر کوزول- سر ټيټول- (۲)زمکه ښکته کول- زمکه ژورول- غوجول-

خوړون:(خوَ-ړ-ون)حاصل مصدر- وګورئ خوړول-

خوړونکے:(خوَ-ړ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ خوړول-

خوړونګ:(خوَ-ړ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خوړول-

خوړونه:(خوَ-ړ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ خوړول-

خوړوۀ:(خو-ړ-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ خوړول-

خوړېدل:(خو-ړي-دَل)مصدر لازم- (۱)مخ ښکته کېدل- سر خوړے کېدل- سر ښکته کېدل- ټيټېدل- کوړېدل- ښکته کېدل-

خوړېدن:(خوَ-ړي-دَن)حاصل مصدر- وګورئ خوړېدل-

خوړېدنګ:(خو-ړي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ خوړېدل-

خوړېدنه:(خوَ-ړي-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ خوړېدل-

خوړېدونکے:(خو-ړي-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ خوړېدل-

خوړېدۀ:(خو-ړي-دۀ)حاصل مصدر- وګورئ خوړېدل-

خوړے:(خو-ړے)اسم- مخ پۀ ښکته- خوږېږ-

خوز:(خوزْ)اسم- واحد- مذکر- (۱)يو ځنګلي ازغن بوټے چې اوښان ئې پېر پۀ مينه خوري- تنده- سوز- خوځ- اغزے- خار- ازغے-

خوزخانه:(خوزْ-خا-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)هرته چې اغزي وي- اغزيانه- خوزيانه- (۲)د خورو کوړی- د خوزانو خونه- د خوزونو کوړی- د سوزانو خونه- خوز کوړی- خارخانه- هغه کوړی چې د ګرمي پۀ موسم کښې خلق خوزان پرې اچوي او د ګرمي نه خانونه پکښې ژغوري- چوپال- جونګړه- څپر-

خورکوړی:(خوز-کو-ړی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وګورئ خورخانه- (۲)هغه ځای چې ازغي پکښې ډېر وي- اغزيانه- خوريانه- (۲)خوزژاوله- د خورانو خواله- ترنجبين- خوزکوړی-

خوزکوړی:(خوز-کو-ړی)اسم- واحد- مونث- (۱)کوړی- (۲)خوزژواله- د خورانو زواله- ترنجبين-

خوزکوړے:(خوز-کو-ړے)اسم- واحد- مذکر- خوز کوړی- ترنجبين- خور خاژله-

خوزن:(خو-زن)اسم صفت- واحد- مذکر- اغزن- ازغن خوز لرونکے- ازغی لرونکے- سوز لرونکے-

خوزوکوړی:(خو-زو-کو-ړی)اسم- واحد- مؤنث- کوړی- د خوزواله- خوزژواله- ترنجبين-

خوزه:(خو-زه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ خوز-

خوزی:(خو-زی)اسم- جمع- مذکر مؤنث- د خوز سره تعلق لرونکے-

خوزی ماخوزی:(خو-زی-ما-خو-زی)اسم- جمع- مذکر/مؤنث- زوزی ما زوری- جوج ماجوج- جوج ماجوج- خوخی ماخوخی-

خوزيانه:(خوز-يا-نه)اسم- واحد- مؤنث- ازغن ځای- ازغی لرونکی سیمه- ازغنه علاقه- اغزيانه- هغه ځای چې ډېر ازغی لري- خوز کوړی- خوږ ځنه-

خوږ:(خوږ)اسم صوت- زوږ- شوربګټ- غوغا- غل غوبل- شوروغوغا- عالمغال- (د زوږ دره املا)-

خوږده:(خوږ-ده)اسم فاعل- واحد- مذکر- خوږ کونکے-

خوږه:(خوَ-ږه)اسم صوت- خوږ- زوږ- زووږ- شورشغرب- د کښو آوازونو خوړا- (زږه املا)-

خوښ:(خوښ)اسم- واحد- مذکر- (۱)ښکېدنه- خوټکېدنه- جوش- خوټ- (۲)زړه- غصه- کينه-

خوښا:(خو-ښا)اسم- واحد- مؤنث- د انګورو شيره- جوشاب- دوښاب- د توتانو شيره- د څۀ خوږ څيز شيره-

خوښول:(خو-ښَ-ول)مصدر متعدی- (۱)جوش ورکول- خوټ ورکول- خټکول- (۲)ايسره ايستل- دوښاکول- دوبا ايستل-

خوښولے:(خو-ښَ-وَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ خوښول-

خوښون:(خو-ښَ-ون)حاصل مصدر- وګورئ خوښول-

خوښونکے:(خو-ښ-وُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ خوښول-

خوښونګ:(خو-ښَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خوښول-

خوښونه:(خو-ښ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ خوښول-

خوښوۀ:(خو-ښ-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ خوښول-

خوښه:(خو-ښه)اسم- واحد- مؤنث- جوشه- هغه څيز چې پۀ دېګ کښې يا کټوئ کښې وخټکولے شي-

ی: (ئی-رل)، ي:(مې-رم-ول)، ې:(پيا-ـلي)، ئ:(تن-دي) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

خوښېدل:(خو-ښې-دل)مصدر لازم- یشبدل- جوش خوړل- جوشېدل- ایشېدل- خټکېدل-
خوښېدلے:(خو-ښې-دَه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ خوښېدل-
خوښېدن:(خو-ښې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ خوښېدل-
خوښېدنګ:(خو-ښې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ خوښېدل-
خوښېدنه:(خو-ښې-دَه-نه)حاصل مصدر- (۱)وګورئ خوښېدل- (۲)تېزي- غلبه- غلغله-
خوښېدونکے:(خو-ښې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ خوښېدل-
خوښېدهٔ:(خو-ښې-دَهٔ)حاصل مصدر- وګورئ خوښېدل-
خوغاله:(خو-غا-له)اسم- واحد- مؤنث- ښېره-
خوکړه:(خو-کَ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- زېږېدنه- خوونه- زوکېدنه- تولد- زوکړه-
خوکړه:(خو-کَ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- خوکه- څوکنی- تیغے- تېرهٔ سر- څوکړه- سر- دَ وني، عر یا هر هغه څیز چې اخری سر ئې په پورته ختلے وی او هم په هغه نقطه ختمیږی-
خوکل:(خو-کَل)اسم- مذکر- ختغولے- خنبوکے- جزغاله-
خوکول:(خو-کَه-وَل)مصدر متعدی- پیدا کول- راوړل- زېږول-
خوکون:(خو-کَه-وَن)حاصل مصدر- وګورئ خوکول-
خوکونکے:(خو-کَه-وون-کے)اسم فاعل واحد- مذکر- وګورئ خوکول-
خوکونګ:(خو-کَه-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ خوکول-
خوکونه:(خو-کَه-وَه-نه)حاصل مصدر- وګورئ خوکول-
خوکوهٔ:(خو-کَه-وَهٔ)حاصل مصدر- وګورئ خوکول-
خوکي داره:(خو-کې-دا-ره)اسم صفت- واحد- مذکر- تېره- نوکداره- څوکې داره- جمع خوکې داری-
خوکېدل:(خو-کې-دل)مصدر لازم- زېږېدل- پیدا کېدل-
خوکېدن:(خو-کې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ خوکېدل-
خوکېدنګ:(خو-کې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ خوکېدل-
خوکېدنه:(خو-کې-دَه-نه)حاصل مصدر- وګورئ خوکېدل-
خوکېدونکے:(خو-کې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ خوکېدل-
خوکېدهٔ:(خو-کې-دَهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ خوکېدل-
خوکے:(خو-کے)اسم- واحد- مذکر- سخته لار- خوږناکه لار- ستغ- خوږے-
خوګ:(خوګ)اسم- واحد- مذکر- یو قسم غرځنے بدبویه بوټے دے چې زنانه ئې دَ وچولو او وړولو نه پس دَ ماشومانو په ترخونو او مغانو کښې اچوی-
خوګل:(خو-ګل)اسم- وګورئ پوسه-
خول:(خول)اسم- واحد- مذکر- تېز باد-چه او تېزه سیلی- سخته یخنی او سیلی- سیلی او باران- طوفان- زول-
خول:(خول)اسم- واحد- مذکر- زوبل- زول- روال- یو قسم بوټے چې زیر ګل کوی او په بعضو بیمارو کښې د دارو په توګه استعمالولے شی- (افغانستان)-
خول:(خول)اسم- لمسون- ټوم- ټوبک-
خولانه:(خو-لا-نه)اسم- واحد- مؤنث- خولنه- د پښو زنځیر- بېړی-
خولن:(خو-لن)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه زخم چې د پوحوالی لهٔ کبله پکښې ئو راغلے وی-
خولنګه:(خو-لنګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- مذکر خول- جوله- خورجین- پنډېر- پنډېره- بوګځکی- د تړوکی جوړه هغه بوحکی شان چې دَ کور ختې مات ګو سامان پکښې حوندی کولے شی-
خولنه:(خو-له-نه)اسم- واحد- مؤنث- خولانه- بېړی- دَ پښو زنځیر-
خوله:(خو-له)اسم- مؤنث- وری- غیری- جوله-
خوله:(خو-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)زوړ قمیص چې لاندې ورته استر لګېدلے وی- (۲)لویه او روده جوله چې دَ بیزو دَ ویښتو نه جوړه شوې وی او په اوښانو باندې بارولے کیږی-
خوله:(خو-له)مهمل- وګورئ خله خوله-
خولی:(خو-لی)اسم- واحد- مؤنث- بنګړی- بامو-
خولی:(خو-لی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)لمن- جولی- (۲)کلچ- پیکه- جوال عندې څیز دے چې دواړه سرونه او یو طرف ئې ګنډلے وی او یوه خوا ئې آزاده وی- خلوره لو سره پکښې چلولے شی-
خومبق:(خوم-بق)اسم- واحد- مذکر- خونبق- غنچه- دَ یو بوټی تنکی عمل او دَ سرپانې-
خومبک:(خوم-بک)اسم- واحد- مذکر- کچه- کوچه- رومبک- خونبړے- غومبک-
خومبکه:(خوم-به-که)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ څونبکه-
خومبکے:(خوم-به-کے)اسم- واحد- مذکر- وټے- خومبکه- دَ زنانو د عورږنو یو قسم کالے-
خومبول:(خوم-بَ-وَل)مصدر متعدی (۱)خوخول- په ورو ورو حرکت کښې راوستل- په قلار قلار حرکت ورکول- سوکه حرکت ورکول- (۲)استول- ورو کول-
خومبولے:(خوم-بَ-وَه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- (۱)حرکت کښې راوستے- خوړولے- (۲)است کړے- وروکړے-
خومبون:(خوم-بَ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ خومبول-
خومبونکے:(خوم-بَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ خومبول-
خومبونګ:(خوم-بَ-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ خومبول-
خومبونه:(خوم-بَ-وَه-نه)حاصل مصدر- وګورئ خومبول-
خومبوهٔ:(خوم-بَ-وَهٔ)حاصل مصدر- وګورئ خومبول-
خومبېدل:(خوم-بې-دل)مصدر لازم- (۱)په ګڼ شمېر کښې ټولېدل- غزېدل یا خوځېدل- حرکت کول- (۲)استېدل- ورو کېدل-
خومبدلے:(خوم-بې-دَه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ خومبېدل-

زبر "(خ-بَه-ره)"، زورکے "(شل)"، پېش "(نو-کا-ره)"، زیر "(کِ-تاب)"، جزم "(شکون)"، "هٔ" (ر-ږه)، "هٔ" (پو-ښې-دَهٔ)

www.pukhto.net

خومبېدن:(خوم-بې-دن)حاصل مصدر- وګورئ: خومبېدل-
خومبېدنګ:(خوم-بې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ: خومبېدل-
خومبېدنه:(خوم-بې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ: خومبېدل-
خومبېدونکے:(خوم-بې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ: خومبېدل-
خومبېدهٔ:(خوم-بې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ: خومبېدل-
خومنه:(خوم-نه)اسم- مؤنث- خواله- بوروا- زېمنه- شوروا- شوربه- خورمنه- خومه-
خون:(خ-ون)اسم- واحد- مذکر- پچه- پچه- پچن- بټی- د کلال پچه- د کلال بټی- پژه-
خونبق:(خوم-بق)اسم- واحد- مذکر- خونړے- پهٔ سر ورهٔ غمدي د وېښتو ګوپه-
خونړکے:(خون-ړکے)اسم تصغیر- واحد- مذکر- وړوکے خومبق-
خونړی خونړی:(خون-ړی-خون-ړی)اسم مرکب- مذکر- چې ډېر خونړی پکښې وی-
خونړے:(خون-ړے)اسم- واحد- مذکر- پشم یا د وړېښمو نه جوړ شوے ګل- د پګړی شوکه- جوړه کړے شوی غټه- طره- پوپکه- کلغی- حومبک- ګوچه- ګچه- پوپک- ګل- تاج- جنړے- جینډی- چرخول- چارخولک- چارغول- چارعومک- کرکره- پرپره- د چرګ چوټی- د چرګ د سر خونړے-
خونګه:(خون-ګه)اسم- مؤنث- عادت- فطرت- شان- پیدائښت- پیدارښت-
خونه:(خو-نه)اسم- وګورئ: اوی-
خووب ګر:(خ-ووب-ګر)اسم صفت- واحد- مذکر- باڼي ګر- خواب ګر- جیلي باڼي یا انې باڼي جوړوونکے-
خوول:(خو-ول)مصدر متعدی- زېږول- راوړل- پیدا کول-
خوښېل:(خو-ښېل)مصدر- شحوند وهل- ژونېل-
خوی:(خوی)اسم- واحد- مذکر- بچے- نارینه اولاد- زمنکے- زوی-
خوېږ:(خوېږ)اسم- واحد- مذکر- د ستغ ضد- کښته- د تل یا فرش خوا ته تلل- د غرهٔ نه د راکوزېدو مخه- خوږ- خوږے- د نیغ ضد- مخ ښکته- د تل پهٔ لور- د غرهٔ نه د راښکته کېدو مخه-
خوېږند:(خوي-ږند)اسم صفت- واحد- مذکر- کوږند-
خوېش:(خوېش)اسم- مؤنث- نچوړ-
خوېښل:(خوي-ښل)مصدر متعدی- خېښل- کوپل- چوپل-
خه:(خه)فعل امر- روان شه- لاړ شه-
خېخېړل:(خی-خي-ړل)مصدر متعدی- (۱)وهل- ټکول- کوټل- سهوري سټنې وټېل- (۲)ځوړل- وهل- لکه د پوزې وهل او موږک وهل-
خېخېړلے:(خی-خي-ړلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ: خېخېړل-
خېخېړن:(خی-خي-ړن)حاصل مصدر- وګورئ: خېخېړل-

خېخېړنګ:(خی-خي-ړنګ)حاصل مصدر- وګورئ: خېخېړل-
خېخېړنه:(خی-خي-ړنه)حاصل مصدر- وګورئ: خېخېړل-
خېخېړونکے:(خی-خي-ړون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ: خېخېړل-
خېخېړهٔ:(خی-خي-ړهٔ)حاصل مصدر- وګورئ: خېخېړل-
خېخېړېدل:(خی-خي-ړي-دل)مصدر لازم- د چا د لاسه وهل ټکول خوړل-
خېخېړېدن:(خی-خي-ړي-دن)حاصل مصدر- وګورئ: خېخېړېدل-
خېخېړېدنګ:(خی-خي-ړي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ: خېخېړېدل-
خېخېړېدنه:(خی-خي-ړي-دنه)حاصل مصدر- وګورئ: خېخېړېدل-
خېخېړېدونکے:(خی-خي-ړي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ: خېخېړېدل-
خېخېړېدهٔ:(خی-خي-ړي-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ: خېخېړېدل-
خېر:(خېر)صفت- مذکر- (۱)اثبات- احتیاط- به غور کتنه- (۲)کتلے- لیدلے کتلے-
خېر:(خېر)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)تېز نظره- باریک بین- زیرک- خیرک- دانا- هوښیار- متوجه- (۲)سوچه- خالص- (۳- اسم)چیغندک- ږغ- غږ- آواز- د ساز نرے آواز- (کول/کېدل مصدرونه)-
خېر:(خېر)اسم- واحد- مذکر- (۱)پټ- پرټکے- پوستکے- ګرمن- پوټ- (۲)د مېږی پټ د مېږی پاته- (۳)هغه تار چې پهٔ غاړه کښې پروت وی- د سرېندی تار- (۴)غاړکی- شبدی- (ونېل مصدر)-
خېرخېر:(خېر-خېر)اسم صفت- مرکب- پهٔ یو مخ- پهٔ غور- (کتل/ونېل مصدرونه)-
خېرک:(خی-رک)اسم صفت- واحد- مذکر- تېز نظره- هوښیار- زیرک- پوهه- تېز نظرے- تېز بین- دقیق-
خېرکتوب:(خی-رک-توب)اسم- مذکر- زیرکتوب- خیرک والے- هوښیاری- خیرکتیا- پوهه- تېز نظری- هوښیارتیا- دانائی- زیارسی-
خېرکتیا:(خی-رک-تیا)اسم- مؤنث- وګورئ: خیرکتوب-
خېرکوالے:(خی-رک-وا-لے)اسم- مذکر- وګورئ: خیرکتوب-
خېرکی:(خی-ر-کی)اسم- مؤنث- تېز نظری- هوښیاری- پوهه- باریک بینی-
خېرکے:(خی-ر-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- دوه پوستہ- دوغلہ- دوه عمرکه- دوه برغه-
خېرمن:(خېر-من)اسم صفت- واحد- مذکر- هوښیار- زیرک- خیرک- باریک بین- پوه-
خېرنه:(خی-ر-نه)حاصل مصدر- (۱)ازرنې کول- خېرتیا- خېرتوب- پهٔ خېر خېر کاتنه- (۲)پام اړول- خبراخستل-
خېرول:(خی-ر-ول)مصدر متعدی- (۱) پهٔ خېر خېر کتل- جائزه اخستل- (۲)تصدیق کول- پهٔ زرکانی اچول (۳)څېړل- سمحول- (۴) تنقید کول- پلټنه کول- (۵)لیدل- کتل- لټول- (۶)متوجه کول-
خېرون:(خی-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ: خېرول-

www.pukhto.net

ښېرونکے[ښې-ر-وَن-کے]اسمِ فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ښېرول-
ښېرونګ[ښې-ر-ونګ]حاصلِ مصدر- وګورئ ښېرول-
ښېرونه[ښې-ر-وَنه]حاصلِ مصدر- وګورئ ښېرول-
ښېروۀ[ښې-ر-وۀ]حاصلِ مصدر- وګورئ ښېرول-
ښيره[ښي-ره]اسم- مؤنث- (۱)جيره- ټاکلې اندازه- وظيفه- هغه مقرره اندازه چې يو کور نه جومات ته ورکول کيږي- (۲)يوه مشهوره ګياه ده چې سپين او واړۀ ګلونه لري تخم ئې ښۀ بوئ لري او ښځې خوږو ته د ښې ذائقې او ښۀ بوئ د پاره وراچول کيږي- زيات تره وريژو کښې اچول کيږي- زيره- زيکے-
ښيره[ښي-ره]اسم- واحد- مؤنث- (۱)ځان- بشره- څېره- مشابه- شکل- (۲)- صفت)څرګند- ښکاره-
ښيرېدل[ښي-رې-دل]مصدرِ لازم- متوجه کېدل- دقت کول-
ښيرېدن[ښي-رې-دن]حاصلِ مصدر- وګورئ ښيرېدل-
ښيرېدنګ[ښي-رې-دنګ]حاصلِ مصدر- وګورئ ښيرېدل-
ښيرېدنه[ښي-رې-دَنه]حاصلِ مصدر- وګورئ ښيرېدل-
ښيرېدونکے[ښي-رې-دَون-کے]اسمِ فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ښيرېدل-
ښيرېدۀ[ښي-رې-دۀ]حاصلِ مصدر- وګورئ ښيرېدل-
ښيږکے[ښيږ-کے]اسم- واحد- مذکر- (۱)ځخکے- ځوځکے- ښنکے- سرکے- ژژکے- سژکے- (۲)يو قسم بوټے دے چې په پټو کښې ئې ازغي وي-
ښيګ[ښيګ]اسمِ صفت- واحد- مذکر- (۱)تيز- ښېر- سنغ- شړل- (۲)ښېرتي- (۳)سپېڅلے- سوچه- پاک- (۴)وګورئ جمبل- (۵)وګورئ ښپروده-
ښيګ توب[ښيګ-توب]اسم- مذکر- (۱)زيرتوب- ښېروالے- ښيرتيا- سخت مزاجي- (۲)غيرت- (۳)سوچه والے- پاکوالے- سپېڅلتيا- سپېڅلتيا-
ښيګ تيا[ښيګ-تيا]اسم- مؤنث- وګورئ ښيرتوب-
ښيګر[ښي-ګر]اسم- واحد- مذکر- (۱)ابنه- ينه- جګر- (۲)سينه- (۳)همت- زغم- حوصله- (۴) زړۀ ور توب- شجاعت- دلاوري- (۵)زور- (۶)خوږ- نږدې-
ښيګرخون[ښي-ګر-خون]اسم- مرکب- تکليف- خواري-
ښيګرور[ښي-ګر-ور]اسمِ صفت- واحد- مذکر- (۱)د لوئ زړۀ ښښتن- د لوئ سينې خاوند- (۲)مضبوط- بهادر- زړۀ ور- (۳)شوخ-
ښيګ والے[ښيګ-والے]اسم- مذکر- ستروالے- ښيرتوب-
ښيکول[ښي-کَه-ول]مصدرِ متعدي- ښېرول- زيږول- ديړول- غصه کول- سوځول- په ننګ او غيرت راوستل-
ښيکولے[ښي-کَه-وَلے]اسمِ مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ښيکول-
ښيکون[ښي-کَه-ون]حاصلِ مصدر- وګورئ ښيکول-
ښيکونګ[ښي-کَه-ونګ]حاصلِ مصدر- وګورئ ښيکول-
ښيکونه[ښي-کَه-وَنه]حاصلِ مصدر- وګورئ ښيکول-
ښيکونکے[ښي-کَه-وَن-کے]اسمِ فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ښيکول-

ښيکوۀ[ښي-کَه-وۀ]حاصلِ مصدر- وګورئ ښيکول-
ښيکه موکه[ښي-کَه-مو-کَه]اسمِ مرکب- ګټه وټه- ذخيره- غونډه- جمع- ګټه-
ښيکېدل[ښي-کې-دل]مصدرِ لازم- ريږېدل- ښېرېدل- غصه کېدل- سوځېدل- سوزېدل-
ښيکېدن[ښي-کې-دن]حاصلِ مصدر- وګورئ ښيکېدل-
ښيکېدنګ[ښي-کې-دنګ]حاصلِ مصدر- وګورئ ښيکېدل-
ښيکېدنه[ښي-کې-دَنه]حاصلِ مصدر- وګورئ ښيکېدل-
ښيکېدونکے[ښي-کې-دَون-کے]اسمِ فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ښيکېدل-
ښيکېدۀ[ښي-کې-دۀ]حاصلِ مصدر- وګورئ ښيکېدل-
ښينار[ښي-نار]اسم- واحد- مذکر- زنار- د سپنسو هغه مزے چې هندوان ئې په مذهبي ډول غاړې ته اچوي-
ښينګر[ښين-ګر]اسم- واحد- مذکر- ګن- کوږ- زينګر-
ښينور[ښي-نور]اسم- ښنور- عبرکولي-
ښينه[ښي-نه]اسم- واحد- مؤنث- زينه- پوړۍ- پايه- پارګنګ-
ښيې[ښي-ښې]اسمِ متعلق فعل- (۱)بعضې- ځنې- (۲)ترسه- ورځه- نږې-
ښېټ[ښېټ]اسمِ صفت- واحد- مذکر- جوړ- ځوان- ښنوا-
ښېټه[ښې-ټه]اسمِ صفت- واحد- مؤنث- جوړه- ځوانه ميږه چې لنګه شوې لا نه وي-
ښېرمه[ښېر-مه]اسم- مؤنث- ربرمه- توبه- ذخيره- توښه- پس انداز-
ښېرمه وال[ښېر-مه-وال]اسمِ صفت- واحد- مذکر- هغه څوک چې د ائظلي پخلي کار کوي-
ښېرول[ښې-ر-ول]مصدرِ متعدي- پسخول- زهيرول-
ښېرولے[ښې-ر-وَلے]اسمِ مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ښېرول-
ښېرون[ښې-ر-ون]حاصلِ مصدر- وګورئ ښېرول-
ښېرونکے[ښې-ر-وَن-کے]اسمِ فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ښېرول-
ښېرونګ[ښې-ر-ونګ]حاصلِ مصدر- وګورئ ښېرول-
ښېرونه[ښې-ر-وَنه]حاصلِ مصدر- وګورئ ښېرول-
ښېروۀ[ښې-ر-وۀ]حاصلِ مصدر- وګورئ ښېرول-
ښېرے[ښې-رے]صفت- مذکر- رښتيا- څرګند- سوچه ښېره-
ښېږمه[ښېږ-مه]اسم- واحد- مؤنث- جږمه- د ښېو غاړې د سترګو هغه برخه چې باڼۀ پرې ولاړ وي- جبږمه- جوږمه- جرمه-
ښېږمه[ښېږ-مه]اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ښېږمه-
ښېږېدل[ښې-ږې-دل]مصدرِ لازم- پيدا کېدل-
ښېږېدلے[ښې-ږې-دَلے]اسمِ مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ښېږېدل-
ښېږېدن[ښې-ږې-دن]حاصلِ مصدر- وګورئ ښېږېدل-
ښېږېدنګ[ښې-ږې-دنګ]حاصلِ مصدر- وګورئ ښېږېدل-
ښېږېدنه[ښې-ږې-دَنه]حاصلِ مصدر- وګورئ ښېږېدل-
ښېږېدونکے[ښې-ږې-دَون-کے]اسمِ فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ښېږېدل-

زبر"(ح-سبف-ره)، زورکے"(شل)، پېښ"(ښو-ګا-ره)، زېر"(ک-تاب)، جزم"(شکون)، "ة"(ز-ړه)، "ځ"(دو-ښې-دۀ)

ښېرېدهٔ:(ښي-رې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ ښېرېدل-

ښېسل:(ښي-سل)مصدر متعدي- ښسل- ښوسل- بدرد ونيل- ملامته کول- ازارول- کړول- تکليف ورکول- زورل-

ښېل:(ښېل)اسم- واحد- مذکر- (۱)ضد- ناړامي- بغض- اړي- سربمکي- سرټمبګي- جهل- ناپوهي- کم عقلي- تېښکار- (۲)زنځير- (۲)رسي- ام- فارسي جهل)-

ښېلانځه:(ښي-لاڼ-ځه)اسم- د ځمر ځائ-

ښېلانځه:(ښي-لاڼ-ځه)اسم- واحد- مونث- هغه ښناور (غوا- مېښه)چې د کمزوري يا بيماري نه صحت مند شي-

ښېلانځه:(ښي-لاڼ-ځه)اسم- واحد- مؤنث- پېروان- پربوان- پرېمون- ښيانځه-

ښيله:(ښي-له)اسم- واحد- مؤنث- ښېلي- جړه- جړه- مونږ کونږ-

ښېلي:(ښي-لي)اسم صفت- واحد- مذکر- ړيمار- ضدي- جاهل- ناپوهه- کم عقل- سرټمبه- جېلي-

ښېلي:(ښي-لي)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)جړوه- ولي- (۲)انځيران- محري- يو قسم بيماري ده چې د څرمې دسه ښت غټ غدوان راپېدا شي- (۲)ښيرې- کجيران- کجران-

ی (ښي-رل)، ی(امي-ره-ول)، ی(ېپا-لی)، ې(تن-دې) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

چ:(چي)حرف- د پښتو د ا ب د پټې نهم حرف- تلفظ ئې چي دے-

چا:(چا)حرف استفهام- څوک- کوم يو- کوم-

چاب:(چاب)اسم- واحد- مذکر- ديوال- وحه- پيټه- چاپ-

چاباره (چا-با-ره)اسم صفت- واحد-مونث- (۱)چالاکه ښځه- ږ‌ه وره سخه-
(۲)پوهه ښځه- پۀ مرمن- مکره ښځه- جمع چابارې-

چابړی فروش:(چاب-ړی-فروش)اسم صفت- واحد- مذکر- ربړی بان- ربړي والا- چابړے لګونکے- ربړه يا ګاړی کښې ځيزونه خرڅونکے-

چابړی فروشی:(چاب-ړی-فروشی)اسم- واحد- مونث- د چابړی فروش کار-

چابړی:(چاب-ړی)اسم- واحد- مونث- (۱)وګورئ چابړے- (۲)ورکوټي ټوکرې- ورکوټي ټکرې- چابړی-

چابړے:(چاب-ړے) اسم- واحد- مذکر- د تلي يوه حصه- تلي پټ - تله- جمع چابړی-

چابک:(چا-بک)اسم- واحد- مذکر- کروړه- تازيانه- تراټ- متروکه- جمع چابکونه-

چابک:(چا-بک)اسم صفت- تيز- ګړندے- چست- تند- مټے- چالاک-

چابک ټکے:(چا-بک-ټه- کے)اسم صفت- واحد- مذکر- تيز تلونکے- ګړندے تلونکے- جمع چابک ټکي-

چابکتوب:(چا-بک-توب)اسم- مذکر- چابکتيا- چابکي- تيزي- چابک والے- چلتي- تندي- چستي- ګړندے توب- چالاک والے-

چابکتيا:(چا-بک-تيا)اسم- مونث- وګورئ چابکتوب-

چابک چابک:(چا-بک-چا-بک)اسم مرکب- ګړندے ګړندے- تيز تيز-

چابک دست:(چا-بک-دست)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه سړے چې پۀ لاسو تکړه وی- تک لاسے- جمع چابک دستي-

چابک سوار (چا-بک-س-وار)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)تيز- (۲)سور- پسور- جمع چابک سواره-

چابک سواری:(چا-بک-س-وا-ری)اسم- مونث- (۱)تيزي- تندي- (۲)سورلي-

چابکو:(چا-بک-کو)اسم صفت- واحد- مذکر- چست وچالاک-

چابکوالے:(چا-بک-وا-لے)اسم- مذکر- وګورئ چابکتوب-

چابکول:(چا-بک-کول)مصدر متعدی- ګړندے کول- تيزول- مسے کول- چلتول- تندول- وچتول- چالاکه کول-

چابکون:(چا-بک-کو-ن)حاصل مصدر- وګورئ چابکول-

چابکونکے:(چا-بک-کو-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چابکول-

چابکونګ:(چا-بک-کو-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چابکول-

چابکونه:(چا-بک-کو-ونه)حاصل مصدر- وګورئ چابکول-

چابکوۀ:(چا-بک-کو-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ چابکول-

چابکی:(چا-بک-کی)اسم- مونث- وګورئ چابکتوب-

چابکېدل:(چا-بک-کې-دل)مصدر لازم- ګړندے کېدل- تيزېدل-

چابکېدن:(چا-بک-کې-دن)حاصل مصدر- وګورئ چابکېدل-

چابکېدنګ:(چا-بک-کې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چابکېدل-

چابکېدنه:(چا-بک-کې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ چابکېدل-

چابکېدونکے (چا-بک-کې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چابکېدل-

چابکېدۀ:(چا-بک-کې-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ چابکېدل-

چابکی:(چا-بک-کی)اسم- واحد- مونث- يو قسم چينجے چې رنګ ئې سور وی او د پاسه پرې ويښتۀ وی- مادکيا- ګړندی-

چابی:(چا-بی)اسم- واحد- مونث- کنجي- کوسے- پلے- کلی- کيلی- پيچ- هغه آله چې جرنده (تاله) پرې خلاصولے شي- هغه آله چې د موټرو لارو او داسې نور قسمه مشينونه پرې پرانستے شي- پۀ ګړی کښې هغه ورکوټے پيچ چې مشين ته پرې حرکت ورکولے شي- هغه آله چې ګړيال ته پرې حرکت ورکولے شي-

چاپ:(چاپ)اسم- واحد- مذکر- (۱)مهر- ټاپه- (۲)نښه- نښانه- داغ- ځاپ- علامت- (۳)د چاپ کارخانه- د چاپ صنعت- (۴)د وسلې دوکان- (۵)تخم- (۶)خوشامند- (۷-صفت)چاپ شوے-

چاپانه:(چا-پا-نه)اسم- واحد- مونث- شوکه- علا- چپاؤ- چمه-

چاپت:(چا-پت)اسم- مذکر- (۱)قرض سودا- پۀ پور سودا- نسيه سودا- لاګ وپار- قرض دلو- ورکړه راکړه- (۲)يادداښت- يادداشت- چوب خط- چوخت- پۀ قرض توکے يا رخت اخستنه- وګورئ اچاپت-(م- هندی)-

چاپ خانه:(چاپ-خا-نه)اسم- واحد-مونث- (۱)مطبع- د چاپ کولو ځائ- هغه ځائ چې د کتابونو يا داسې نورو موادو د چاپ کولو کار پکښې د مشينونو پۀ ذريعه کيږی- جمع چاپ خانې-

چاپر:(چا-پر)اسم-مذکر- قبله نما- حد- ځائ- (افغانستان)-

چاپړ:(چا-پړ)اسم- واحد- مذکر- د تلي پله- چاپړے-

چاپراخ:(چاپ-راخ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)راز- بېرته- خلاص- ارت- بلن- پراخ- (۲)د زنانو اندام نهانی-

چاپراخه:(چاپ-راخه)اسم- واحد- مونث- څاپېره- څپېره- تتوره چاپېره- ډبر- څپلاخه- چپلاخه- چاپلاخه- جمع چاپراخې-

چاپرتابه:(چا-پر- تا-به)اسم مرکب- هغه پلنه اسپنه چې بله پلنه اسپنه پرې اوارولے شي-

چاپرخه:(چاپ-رخه)اسم- واحد- مونث- چپاتي- کاغذی پوړی- پنجابي پوړی- نری او سپکه پوړی-

چاپکه:(چا-پکه)اسم- واحد- مونث- څپياکه- سوبه- تپی- تاپی- څپکه- جمع چاپکې-

چاپلاخه:(چاپ-لاخه)اسم- واحد- مونث- وګورئ چاپراخه-

چاپلوس:(چاپ-لوس)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)خوشامندګر- خوشامدګر- خوشامدی- غوړه مال- بوټ پاک- تملق- چاکليټی- چپړوس-

www pukhto net

دٔ غوړو او پستو خبرو ويونکے- غوړاوو-

چاپلوسي:(چاپ-لو-سي)اسم- مؤنث- خوشامندګري- غوړه مالي- بوټ پاکي- خوشامدګري- جيبړسي- بې ځايه صفتونه- خوشامندي- پهٔ ژبه ښيه-

چاپول:(چا-په-ول)مصدر متعدي- (۱) طبع کول- خپرول- چاپ کول- (۲)تاپه کول- مهر کول- (۳)نښه کول- نښاني کول- نشانه کول-

چاپون:(چا-په-ون)حاصل مصدر- وګورئ چاپول-

چاپونکے:(چا-په-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چاپونکي- مؤنث چاپونکې- وګورئ چاپول-

چاپونګ:(چا-په-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چاپول-

چاپونه:(چا-پو-نه)اسم- جمع- مذکر- (۱)دٔ زخمونو جوړېدو نه پس پاتې شوي داغونه- داغونه- (۲)دٔ چاپ جمع-

چاپونه:(چا-په-ونه)حاصل مصدر- وګورئ چاپول-

چاپوهٔ:(چا-په-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ چاپول-

چاپه:(چا-په)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ناڅاپي حمله- چوپه- (۲)چاپ- خاپ- داغ- نښه- نقش- تاپه- (۳)عټ مهر- (۴)ښکه- دٔ څلورو ګتو اندازه- دٔ څلور ګتو مومره ځائ- د دوو انچو برابر- (۵)دٔ ازغيو ولې- د غنو ولې- چپه- (۶)کلان- جمع چاپې-

چاپه خانه:(چا-په-خا-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ چاپ خانه-

چاپي:(چا-پي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)منهنه- کښښمښنه- پهٔ وجود زور کونه- بلوده- (۲)ومنه- (کول کېدل مصدرونه)-

چاپي:(چا-پي)صفت- (۱)تاپه شوے- نښه لرونکے- چاپ شوے- (۲)نښاني- نښه-

چاپېدار:(چا-پې-دار)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- ګل دار- چاپونه لرونکے- نښې لرونکے-

چاپېدل:(چا-پې-دل)مصدر لازم- چاپ کېدل- طبع کېدل- خپرېدل- پهٔ مشين چاپ کېدل-

چاپېدن:(چا-پې-دن)حاصل مصدر- وګورئ چاپېدل-

چاپېدنګ:(چا-پې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چاپېدل-

چاپېدنه:(چا-پې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ چاپېدل-

چاپېدونکے:(چا-پې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چاپېدل-

چاپېدهٔ:(چا-پې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ چاپېدل-

چاپېر:(چا-پېر)صفت- (۱)ګرځومه- سرګومه- تاوراتاو- ګرداګرد- ګردي ګوښه- راتاو- چارپېره- چاپېره- ګردي ګوښې- شاؤخوا- خواؤشا- څلورخواري- چارپېره- چارچاپېر- چارچاپېره- (۲)مصروف- لګيا- بوخت- اخته- ورخته- مشغول-

چاپېراز:(چا-پې-راز)اسم- چاپېراس- خواؤشا

چاپېراس:(چا-پې-راس)اسم- وګورئ چاپېراز-

چاپېرچل:(چا-پېر-چل)اسم- (۱)ګردش- ګرځښت- ګرځېدنه- دٔ زمکې دٔ ګرځ ګرځېدنه- (۲)پرله پسې راتاوېدنه او راګرځېدنه- (۳)طواف- چکر- (۴)ماحول- چاپېريال- ګېرچاپېره چاپېره- تېرچاپېره- ګرداګرد- خواؤشا-

چاپېرسيند:(چا-پېر-سيند)اسم صفت- مذکر- سمندر- بحر اوقيانوس- کاري درياب- کاري درياب- بې پايانه سمندر-

چاپېرول:(چا-پې-ر-ول)مصدر متعدي- (۱)راتاوول- محاصره کول- ګېرول- چاپېرکول- ګرد را ګرځول- پهٔ غېږ کښې نيول-

چاپېرون:(چا-پې-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ چاپېرول-

چاپېرونکے:(چا-پې-ر-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چاپېرول-

چاپېرونګ:(چا-پې-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چاپېرول-

چاپېرونه:(چا-پې-ر-ونه)حاصل مصدر- وګورئ چاپېرول-

چاپېروهٔ:(چا-پې-ر-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ چاپېرول-

چاپېره:(چا-پې-ره)صفت- مذکر- مؤنث- وګورئ چاپېر-

چاپېريال:(چا-پېر-يال)اسم- خواؤ شا- شاؤخوا- ماحول- څلور طرفه- چاپېرچل- تېرچاپېره- ګېرچاپېره- محيط-

چاپېرېدل:(چا-پې-رې-دل)مصدر لازم- (۱)راتاوېدل- تاوېدل- ګېره اچول- احاطه کول- (۲)اخته کېدل- لګيا کېدل- بوختېدل- مشغولېدل-

چاپېرېدن:(چا-پې-رې-دن) حاصل مصدر- وګورئ چاپېرېدل-

چاپېرېدنګ:(چا-پې-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چاپېرېدل-

چاپېرېدنه:(چا-پې-رې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ چاپېرېدل-

چاپېرېدونکے:(چا-پې-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چاپېرېدل-

چاپېرېدهٔ:(چا-پې-رې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ چاپېرېدل-

چاپېړے:(چا-پې-ړے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)مرکاره- ډېر کار کونکے- (۲)بوخت- اخته- لګيا- مصروف-

چاپېړه:(چا-پې-ړه)اسم- واحد- مؤنث- جمع چاپېړې- وګورئ چاپړاخه-

چاټ:(چاټ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)تروه مربه- د بيلو بيلو مېوو نه جوړه شوې ترسکونه او ترشه مغلوبه- (۲)غټ منګے- غټ لوښے- (۳)غټه کنده- (۴)دٔ دواړو ورونو منځ- د دواړو پټوبونو منځ- (۵)عادت- مزه-

چاټا:(چا-ټا)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)پرسو- غټ کېږے- خېټور- کدور- حستو- غټ حېټے- ډېرخوړونکے- (۲)سپ- چاټي- جمع چاټاګان-

چاټ خېټے:(چاټ-خې-ټے)اسم صفت- واحد- مذکر- جمع چاټ خېټي- وګورئ چاټي حېټے-

چاټ کوټے:(چاټ-کو-ټے)اسم تصغير- واحد- وړوکې چاټي- جمع چاټ کوټي-

چاټکے:(چاټ-کے)اسم- واحد- مذکر- د خټو لوښے- جمع چاټکي-

ټ (ټې-ړل)- ړ (اصې-ر-ول)- ې (پېا-لې)- ـهٔ (نن-سدس) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

چاټو:(چا-ټو)اسم صفت- واحد- مذکر- خوش طبع- چټ- مست- څوک چې
چېل وخت په خوښۍ تېروي-
چاټوټې:(چا-ټو-ټې)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د خاورو کوچنۍ- لوئ کنډول-
(۲)لوئ پیاله-
چاټوروے:(چا-ټو-روے)اسم- واحد- مذکر- د پیو اېښودو لوښے- جمع
چاټوري-
چاټې:(چا-ټې)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)هغه غټ خاورین لوښے چې ابۀ
پکښې د غېښو دپاره ساتلے شي- د اوړو دانو او کړې د اېښودو خاورین
لوښے- (۲)د شملوشاربلو لوښے- مټ- خم- ملټې- مټې- جمع چاټیاني
مم-
چاټي حسي- ت-ټي-خي-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- جمع چاټي خېټي-
غټ خېټے- گېډ بند- ډېر خور- گېډور- خېټور- خېټو- هغه کس چې
خېټه يې راوتې او ډېرسدلي وي- هغه څوک چې ډېره ډوډۍ خوري-
چاجوش:(چا-جوش)اسم- واحد-مذکر- هغه لوښے چې چائ پکښې پخولے
شي- دَ چائیو دَ پخولو لوښے- هغه لوښے چې ابۀ پکښې پخولے شي-
کېتلے- چاینجوش- چے جوش- چاینېر- چاینجوشه- چاجوشه- جمع
چاجوشونه-
چاچا:(چا-چا)اسم- واحد- مذکر- (۱)تره- کاکا- اکا- د پلار ورور-
(۲)مشر سړی ته د ادب نوم- جمع چاچاگان-
چاچوغاره:(چا-چو-غا-ره)اسم- مونث- هغه حالت چې ماشوم پۀ غاړه او پۀ
اوږه باندي ناست وي- جمع چاچاغاري-
چاچې:(چا-چې)اسم- واحد- مؤنث- د تره ښځه- چاچي- تندار- وندیار-
وندار- تندیار- جمع چاچیانې- چاچي گانې-
چاچې:(چا-چې)اسم- مؤنث- جمع چاچې- (۱)وگوری چاچي- (۲)د ورو
ماشومانو لاس- د لاس تصغیر- (۲)د لاس چپړ، پنجه او څپړ-
چاخ:(چاخ)اسم صفت- واحد- مذکر- مؤنث چاخه- (۱)چالاک- چوست- تکړه-
چالاک- چاق- تیار- شلند- مصبوط- عوبین- جغمت- (۲)سېز- تند-
بیړندے- گړندے- جلت- متے- زندے- اُوجت- ارمتے- چُست- (م- چاق-
فارسي)-
چاخ تک:(چاخ-تک)اسم مرکب- مذکر- تېز تېز تلنه- (افغانستان)-
چاخ چاخ:(چاخ-چاخ)اسم مرکب- تېز تېز- جلت جلت- گړندے گړندے- پۀ
خفل- پۀ منډه- پۀ دوُ- توند توند- وُچت وُچت-
چاخول:(چا-خه-ول)مصدر متعدي- (۱) چاقول- تېزول- گړندے کول-
چُستول- متے کول- وندے کول- وُچتول- جلتول- چابکول- سُرعت
ورکول- (۲)تیارول- مصبوطول-
چاخون:(چا-خه-ون)حاصل مصدر- وگوری چاخول-
چاخونکے:(چا-خه-وُن-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چاخونکي مؤنث
چاخونکې- وگوری چاخول-

چاخونګ:(چا-خه-ونګ)حاصل مصدر- وگوری چاخول-
چاخونه:(چا-خه-وُنه)حاصل مصدر- وگوری چاخول-
چاخوۀ:(چا-خه-وۀ)حاصل مصدر- وگوری چاخول-
چاخه:(چا-خه)اسم- مؤنث- چاخه- ارجل برجل-
چاخېدل:(چا-خې-دل)مصدر لازم- (۱) چاقېدل- جلتېدل- تېزېدل- گړندے
کېدل- چابکېدل- وُچتېدل- تندېدل- چټکېدل- وندے کېدل- (۲)تیارېدل-
مصبوطېدل-
چاخېدن:(چا-خې-دن)حاصل مصدر- وگوری چاخېدل-
چاخېدنګ:(چا-خې-دنګ)حاصل مصدر- وگوری چاخېدل-
چاخېدنه:(چا-خې-دنه)حاصل مصدر- وگوری چاخېدل-
چاخېدونکے:(چا-خې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چاخېدونکي-
مونث چاخېدونکې- وگوری چاخېدل-
چاخېدۀ:(چا-خې-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب
صیغه- وگوری چاخېدل-
چادر:(چا-در)اسم- واحد-مذکر- (۱)څادر- تاځر- ټکرے- ټېکرے- پړونے-
پټو- شال- د سرو لوړنے- (۲)تمبو- خیمه- (م- فارسي)-
چادري:(چا-د-ري)اسم- واحد- مؤنث- برقع- برقه- څادرۍ- اوړنه-
چادی:(چا-دی)اسم صفت- واحد- مذکر- احمق- کم عقل- ناپوهه- بېوقوف-
بودے- ساده- بوده- شادوه سبراء- جمع چادیان-
چادیتوب:(چا-دی-توب)اسم- مذکر- ساده توب- سادگي- کم عقلي-
بودلیتوب- حماقت- ناپوهي-
چادی چکمار:(چا-دی-چک-مار)اسم صفت- واحد- مذکر- ډېر ساده- ډېر کم
عقل- لوده- زیاتَ بې عقله- لۀ عقله پلے- لوده- دُ عقل دُښمن- دُ عقل نه
خوار- هغه څوک چې پۀ هېڅ نۀ پوهېږي-
چاړه:(چا-ړه)اسم صفت- واحد- مذکر- وگوری بې مَده-
چاړی:(چا-ړی)اسم- واحد- مؤنث- رنگتی- اړیکې- لینکته- اړینکتي-
لمکتی- انډی- انډی وهنه- پیه ارموه-
چاړی:(چا-ړی)اسم- مؤنث- وگوری پړکے تړ-
چار:(چار)اسم- مذکر- (۱)کار- کسب- پېشه- مشغولیت- چړ- چړه- عمل-
کړه- سبب- (۲)علاج- چاره- تجویز- بند- ترتیب- (۳)ذریعه- چاره-
گراره- بهانه- وجه- (۴)چارونا چار- (۵)خاپ- لیک- کنل-
چارادام:(چار-ا-دام)اسم- واحد- مذکر- وگوری چار اندام- (م- هندي)-
چاراندام:(چار-ان-دام)اسم- اردس- چارادام- څلور اندامه وینځنه-
چاربوره:(چار-بو-ره)اسم- واحد- مؤنث- وگوری پېټره-
چاربېته:(چار-بې-ته)اسم- واحد- مؤنث- د پښتو شاعري هغه قسم چې
سرېخي يا د مېبې قیصې يکښې بیانیږي- تسلسل پکښې هم شرط دے- د
چاربېتې سر بیابیا دهر بند نه وروستو ویلے کیږي- د بندونو د مصریو
شمېر پکښې د ۴ نه تر ۲۰ پورې وي-

www.pukhto.net

چارپا:(چارَ-پا)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چارپائ.

چارپاره:(چارَ-پا-ره)اسم- مؤنث- (۱)ټکره وریژې- ټل شوی وریژې- (۲)ډ ټوپک ګولی-

چارپائی:(چار-پا-ئی)اسم- واحد- مذکر- کټ- چپرکټ-

چارپائ:(چار-پائ)اسم- واحد- مذکر- څلوربولے- څلورپښے- د څلورو پښو حیوان- څناور- څاروے- حیوان- ښکر- مال- جمع چارپایان-

چارپایه:(چار-پا-یه)اسم- (۱)حیوان- چارپائ- څلوربول- (۲)څرپوڅي-

چارپایګان:(چار-پائ-ګان)اسم- د دروازې یا کړکۍ چوکاټ-

چارپنګی:(چار-پنګ-ګی)اسم- مؤنث- اتدرپایه- دٔ لرګیو پوړی-

چارپېر:(چار-پېر)صفت- وګورئ چاپېر-

چارپېرونکے:(چار-پې-ره-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- احاطه کونکے- حاوی- ګېره اچونکے-

چارپېره:(چارَ-پې-ره)اسم- مذکر- (۱)پهٔ فوځ کښې دٔ شپې نوکری کونکے- (۲-اسم- مؤنث)یوه فوځی اصطلاح- (۲)د شپې نوکری-

چارپېره:(چارَ-پې-ره)اسم- مؤنث- وګورئ چاپېر-

چارتاره:(چار-تا-ره)اسم- مؤنث- دٔ یو ساز نوم- څلورتاره- د موسیقۍ یو آله-

چارتراش:(چارَ-تراش)اسم- واحد- مذکر- تخته- تمبه- هواره او څلور کونیزه تخته- دګے-

چارټ:(چارټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)نقشه- (۲)دٔ کشتۍ چلونکیو هغه نقشه چې دٔ ساحلونو دٔ ژورو ځایونو او پهٔ سمندر کښې دٔ پټو خطرناکو کاڼو متعلق معلومات پکښې وی (۲)هغه معلوماتی پاڼه چې نقشونه او پاېکرامونه لری او مقیاس ونه لری-

چارج:(چارج)اسم- (۱)بېټرۍ دٔ برقی طاقت نه پهٔ یوه مخصوصه طریقه ډکونه- (۲)ټوپک ډکونه- (۳)اختیار- واک- قبضه- منصب- ملکیت- (۴)سمت- مقام- (۵)امر ورکونه- فرمان ورکونه- (۶)حمله کونه- تحرېکونه- لمسونه- (۷)قیمت- مالیه- (۸)الزام- تور- (م- انګریزی)-

چارجامه:(چارَ-جا-مه)اسم- مؤنث- جامې- دٔ ښکرو دٔ حیض کپړه یا ټېکرے چې د ګدی پهٔ شکل کښې تړے شی-

چارجول:(چا-رې-جه-ول)مصدر لازم- (۱) ډکول- بېټرۍ ته د برقی زو پهٔ ذریعه طاقت ورکول- (۲)حکم ورکول- فرمان ورکول- (۲)حمله کول- (۴)قبضه کول-(۵)الزام لګول- تور پورې کول- (۲)مالیه لګول- قیمت مقررول-

چارجون:(چا-رې-جه-ون)حاصل مصدر- وګورئ چارجول-

چارجونکے:(چا-رې-جه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چارجول-

چارجونګ:(چا-رې-جه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چارجول-

چارجونه:(چا-رې-جه-ونه)حاصل مصدر- وګورئ چارجول-

چارجوهٔ:(چا-رې-جه-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ چارجول-

چارجېدل:(چا-رې-جې-دل)مصدر لازم- (۱)ډکېدل- د برېښنا څخه ډکېدل- (۲)امر ورکول کېدل- فرمان ورکول کېدل- (۳)تحریکېدل- حمله کېدل- لمسېدل- (۴)قبضه کېدل- (۵)اتهام وارډېدل- تورېدل- (۶)الزام لګېدل- قیمت مقررېدل- مالیه لګېدل-

چارجېدن:(چا-رې-جې-دن)حاصل مصدر- وګورئ چارجېدل-

چارجېدنګ:(چا-رې-جې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چارجېدل-

چارجېدنه:(چا-رې-جې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ چارجېدل-

چارجېدونکے:(چا-رې-جې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چارجېدل-

چارجېدهٔ:(چا-رې-جې-دهٔ)حاصل مصدر او دٔ ماضی استمراری دٔ واحد غائب صیغه- وګورئ چارجېدل-

چارچاپېر:(چار-چا-پېر)صفت- مذکر- وګورئ چاپېر-

چارچاپېره:(چار-چا-پې-ره)صفت- مؤنث- (۱)تېرچاپېره- ګېرچاپېره- ګرداګرد- ګرداګرد- خوا اوشا- شا اوخوا- (۲)مشغول- بوخت- اخته-

چارچاپېره:(چار-چا-پې-ره)اسم- مؤنث- وګورئ دائره-

چارچرخے:(چار-چر-خے)اسم- واحد- مذکر- تهٔ تینګانی- دٔ ماشومانو یوه لوبه-

چارچشم:(چار-چ-شم)اسم صفت- واحد- مذکر- حریص- لالچی- جمع چارچشمان-

چارچشمه:(چار-چش-مه)اسم- مؤنث- دٔ سپی یو قسم-

چارچلند:(چار-چ-لند)اسم- مذکر- (۱)چال چلند- کردار- (۲)حرکت کرښدنه- (۲)راشه درشه-

چارچوب:(چارَ-چوب)اسم- واحد- مذکر- (۱)چوکاټ- چوکاټ- دٔ لرګیو څخه جوړ شوے قالب- کالب- غالب- (۲)محدود تعین شوی اصول او شرائط- مقرر اصول او ضوابط-

چارچوبه:(چار-چو-به)اسم- مؤنث- تنګ کور- تنګ ځائ-

چارچوبی:(چار-چو-بی)اسم- مؤنث- وګورئ چرچوبی-

چارچوبی:(چار-چو-بی)اسم- مؤنث- وګورئ چرچوبی-

چارچولی:(چار-چو-لی)اسم- مؤنث- وګورئ چرچوبی-

چارخانه:(چار-خا-نه)اسم- مؤنث- (۱)یو مشهوره کپړه- هغه کپړه چې پری مربع شکل کورونه جوړ وی- (۲)هغه کپړه چې دسترخوان او دٔ بېرستنې مخونه ترې جوړولے شی- (۲)هغه لوښے چې سګارهٔ تماکو، او ماچس وغېره پکښې اېښودے شی-

چارخول:(چار-خول)اسم- واحد- مذکر- (۱)دٔ چرګ چوټے- دٔ چرګ پهٔ سر غوبین ځنځے- چارخوله- چرګخول- ځنځے- پرپره- کرکره- قرقره- چارخولک- چارغولک- چارخونېل- چارخولے- چارحېله- چارغول- چرخول- چرخولے- چرخېل- جغه- چوټے- چونټے- کلغے- ګونګه- خوله- (۲- اردو) شمله- طره-

www.pukhto.net

چارخولک:(چار-خو-لک)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چارخول-

چارخوله:(چار-خو-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ چارخول-

چارخولے:(چار-خو-لے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چارخول-

چارخونبل:(چار-خو-نبل)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چارخول-

چارخبله:(چار-خې-له)اسم- واحد-مونث- وګورئ چارخول-

چاردانګ:(چار-دانګ)اسم- مذکر- ټوله دنیا- ویره دنیا- برسته نړۍ- ځلور واړه ګټه- ځلور خوا- ځلور کُنجه دنیا-

چاردانګے:(چار-دانګ-ګے)اسم- واحد- مذکر- نر باز-

چاردیواری:(چار-دي-وا-ري)اسم- مؤنث- وګورئ چاردېوالی-

چاردېوالی:(چار-دي-وا-لی)اسم- مؤنث- هغه دېوال چې د کور نه ګېر چاپېر وهلے شوے وي- د کور احاطه- د پردې دېوال -چاردېواری-

چاړې:(چار-ړے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم ښکرې-

چارساله:(چار-سا-له)اسم- مؤنث- (۱)د پټواری د جمع بندۍ کتاب- (۲)ځلور کلیز- ځلورکلنے-

چارسُو:(چار-سُو)اسم- مذکر- (۱)هغه سرکونه چې یو بل په زاویه قائمه پرېکوي- څلور- څلورلارې- چوک- ځلورمخے- چارراهی- د ځلور لارو د تقاطع نقطه- چلیپا- چوک- وستل- ځلور اړخیز ځائ- چرته چې ځلور لارې یو ځائ کیږي- هغه ځائ چې ځلور لارې ترې بېلیږي- چوکله- (۲)د اور بلولو وړه کوټکی- (۳)بره-

چارشنبه:(چار-شم-به)اسم- مؤنث- (۱)د هفتې پنځمه ورځ- شورو- د نهې او زیارت تر مېنځه ورځ- پنیځم- شروع- پنیځمه ورځ- آخره-

چارښاخه:(چار-ښا-خه)اسم- واحد- مؤنث- چارښاخی- حلقې- ځلورعلبې- سکو- د لرګی نه جوړه شوې د زمیدارۍ آله چې بوس بادولو او پیوو لرلو دپاره استعمالیږي-

چارښاخی:(چار-ښا-خي)اسم- مؤنث- وګورئ چارښاخه-

چارعرق:(چار-ع-رق)اسم مرکب- د ځلورو مېوو رس-

چارغول:(چار-غول)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چارخول-

چارغولک:(چار-غو-لک)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چارخول-

چارقوتی:(چار-قو-تي)اسم- مؤنث- هغه ځائ چې هر وخت پکښې د خلقو ګڼه ګونه وي-

چارک:(چار-رک)اسم- واحد- مذکر- د سېر ځلورمه حصه- د ګز ځلورمه حصه- یو په ځلورمه- ځلورمه- پاؤ- جمع چارکونه-

چارکونج:(چار-کونج)اسم- واحد- مذکر- (۱)چار کونجه- ځلور کونجه- ځلور ګوټے- (۲)یو قسم کولچې چې ځلور کونجه ئې وي- چار کونجه کلچې-

چارکے:(چار-رکے)اسم- واحد- مذکر- چاریک- یو چارک- یو چارپاکے- چارپاکے- پاؤ- ځلور چپاکی- هغه کلے چې پاؤ وي-

چارګر:(چار-ګر)اسم- واحد- مذکر- کارګر- کارکونکے- مزدور- جمع چارګري- مؤنث چارګره- جمع مونث چارګرې-

چارګرندے:(چار-ګرن-دے)اسم- واحد- مذکر- کارګرندے- همېشه خپل کارکونکے-

چارګرے:(چار-ګه-ړے)اسم- مذکر- وربېښمین پټو-

چارګل:(چار-ګل)اسم- واحد- مذکر- (۱)ټیک- غټ پربدار مېخکے- د ښځو د پوزې کلے- پزغبے- (۲)اخلے- جمع چارګلونه-

چارګلے:(چار-ګ-لے)اسم- واحد- مذکر- ټوپی ګل- ترخې- یو قسم بوټے چې رېږ ګلونه کوي-

چارګنده:(چار-ګن-ده)اسم- واحد- مؤنث- د تمبو یا کېږدۍ نه ګېر چاپېره کنستلے شوے لښتے- چړی- چارۍ- چارند- جمع چارګندې-

چارګے:(چار-ګے)اسم- مذکر- د سوزولو یو قسم بوټے- د سوزولو یو قسم لرګے-

چارل:(چارل)مصدر متعدی- څارل- یو څیز په یو خاص وخت کښې معلومول- تحقیق کول-

چارندی:(چار-ن-دی)اسم- مؤنث- ملبوی- ښبوی- رخشید- ریښخند- پسې حمدل-مېښاړې- ټوقې وشتې- په چا پورې د سپکاوی په غرض ټوقې وشتې او خندا برقا کول-

چارلیار:(چار-لیار)اسم مرکب- کار روزګار- چاره- چار- کار-

چارم:(چارم)اسم عدد- مذکر- ځلورم-

چارماغ:(چار-ماغ)اسم- واحد- مذکر- جوړ- غُز- اکور- چارمغز-

چارمغز:(چار-مغز)اسم- مذکر- (۱)اکور- چارماغ- متک- غُز- جوز- اوغز- (۲)ځلور قسمه مغز(حججې)چې طبیبان ئې اکثر په دوایانو کښې استعمالوي- د نباتاتی نوم د پاره وګورئ غُز-

چارمېخ:(چار-مېخ)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه سړے چې د زکام له کبله ئې سینه نښتې وي- (۲)تر خلې پک- اغېر- غریک- (۳)د څارو یو قسم بیماري چې پری راشی نو واښه (ګیاه) نه شی خوړے- (۴)هغه ګوډ چې په ځلور اندامه (په دواړو لاسو او دواړو پښو) او په ځلورو مېږو تړلے شوے وي- یعني هر اندام ئې بېل بېل تړلے شوے وي-

چارن:(چارن)حاصل مصدر- وګورئ چارل-

چارناچار:(چار-نا-چار)متعلق فعل- مجبوراً- خامخا- اررمرو- په زړه ماتی- په مجبوری- په بې وسی- کلم نا کام-

چارند:(چا-رند)اسم- مذکر- وګورئ چارګنده-

چارندوکے:(چا-رن-دو-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- کار وېستونکے- کار روانونکے- کاریګر- چارو- خواری کښ- محنتی- زیارکښ- کوښښی- زحمت کښ- کوشش- کارکن- جمع چارندوکی- مؤنث چارندوکې-

چارنګ:(چا-رنګ)حاصل مصدر- وګورئ چارل-

چارنه:(چا-رنه)حاصل مصدر- وګورئ چارل-

چارنے:(چار-نے)اسم- واحد- مذکر- کسبګر- کسبه- د کسب خاوند- جمع چارنی- مؤنث چارنې-

زېر (حِ-سِبَه-رَه)، زوروکے (شل)، پېښ (اُتو-کا-رَه)، زمبر (لَ-ماب)، حرم (شکون)، ه (ر ه)، ۀ (ږو-مې-ده)

www pukhto net

چارو:(چا-رو)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ چارندوکے-

چاروغه:(چا-رو-غه)اسم- مؤنث- (۱)د کچه ګرمنې یو قسم پښې چې مخ ئې د لمڅې نه جوړ شوے وی- د لمڅې نه جوړې پښې- جمع چاروغې-

چارول:(چا-ره-ول)مصدر متعدی- په چا کار کول- دَ چا نه کار اخستل-

چارونکے:(چا-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چارونکی- مؤنث چارونکې- وګورئ چارل-

چاروے:(چار-وے)اسم- واحد- مذکر- (۱)وګورئ چارپائي (۲)چادرپشی-

چاره:(چا-ره)اسم- مؤنث- (۱)عمل- کسب- فعالیت- بند- بند بناء- مرسته- چل- پېشه- مشغولیت- چار- کار- چره- لاره- چره- کړنه- انتظام- بندوبست- پروګرام- (۲)تدبیر- (۳)مېنه- زغل- ځغاسته- ځغل- (۴)تاخ- تاخت- (۵)ونبه- د پسګړو د پاره تیاره کړے شوې خوراکه- شنه او وچه ګیاه-

چاره ساز:(چا-ره-ساز)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)مدد کوونکے- مرستیال- معاون- مددګار- کومکی- کومک کونکے- (۲)علاج کونکے- چاره کونکے- چاره ګر- (۳)خدای پاک-

چاره سازی:(چا-ره-سا-زی)اسم- مؤنث- کومک- مرسته- علاج- امداد- لار پیدا کونه- چاره- کارسمونه-

چاره ګر:(چا-ره-ګر)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ چاره ساز-

چاره ګری:(چا-ره-ګ-ری)اسم- مؤنث- وګورئ چاره سازی-

چارۀ:(چا-رۀ)حاصل مصدر- وګورئ چارل-

چاری:(چا-ری)اسم- واحد- مؤنث- (۱) د اسپنې نه جوړه یوه آله چې دَ زمیندارۍ او نور قسمه کارونه پرې کولے شی- پل- بېلچه- پنګه- نجه- پړی- پمبه- (۲)مذکر- غلور غاښے پسۀ- دوه کلیز پسۀ- دوه کلے ګډ-

چاری:(چا-ری)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)کارکونکے- (۲)تکل- (۳)تباه- برباد- خراب-

چاریار:(چار-یار)اسم مرکب- جمع- مذکر- دَ انحضرت صلی الله علیه وآله وسلم څلور یاران- حضرت ابوبکر صدیق، حضرت عمرفاروق، حضرت عثمان، حضرت علی رضوان الله علیهم اجمعین- خلفائ راشده، خلفائ راشدین-

چاری چپر:(چا-ری-چه-پر)اسم- مذکر- دَ ماشومانو دَ سورلی یو قسم لوبه- خرکی خرکی-

چاریک:(چا-ریک)اسم- مذکر- وګورئ چارک-

چاري:(چا-ري)تابع مهمل- (۱)لاري سره دَ لاحقې په طور استعمالیږی- لکه لاري چاري- (۲)دَ چاره جمع-

چارېکار:(چا-رې- کار)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چرېکار-

چارېکاری:(چا-رې-کا-ری)اسم- مؤنث- وګورئ چرېکاری-

چاری:(چا-ری)اسم- مؤنث- (۱)چاړی- ګری- (۲)چارګنده- چارنده- (۳) اوږې هډوکے- (۴)دَ ماشومانو دَ لوبو یو ورکوټے کاڼے-

چارے:(چا-رے)اسم صفت- واحد- مذکر- بېوقوف- کم عقل- نادان- ناپوه- احمق-

چاړ:(چاړ)اسم- دَ چمیار هغه قالب چې د پڼو او پیزار جوړولو په کار کښې استعمالیږی- (۲)د پرستنې اسر-

چاړا:(چا-ړا)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)د وسلو او اورېدلو نه محرومه- نیم ژبے- هغه څوک چې واضحه او صفا خبرې نۀ شی کولے- ترتړے- تاته- اروړ- ګونګ- ګنګ- ګونګے- ګنګوړے- بې خلې او بې ژبې- چاړه- (۲)ناپوه- کم عقل- احمق- شاډوله- ساده- بېرا-

چاړاتوب:(چا-ړا-توب)اسم- واحد- مذکر- (۱)ترترېتوب- توړی توب- توتله توب- (۲)بېراتوب- ناپوهی- ساده توب-

چارچوبی:(چار-چو-بی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ چرچوبی-

چاړۀ:(چا-ړۀ)اسم صفت- واحد- مذکر- چاړا- ګونګے- (متروک)- جمع چاړۀ ګان-

چاړۀ:(چا-ړۀ)اسم- مؤنث- (۱) د اسپنې هغه پېرے چې یو اړخ ئې تېرۀ وی او ورته دَ لرګی یا هډوکی لاستے لګېدلے وی د ځارو حلالولو، غوښو پرېکولو او نور هېر کارونو د پاره استعمالولے شی- چاړو- چوړو- چړه- ستاوه- ستوه- چوړوکی- (۲)پېره- ترازه-

چاړۀ بند:(چا-ړۀ-بند)اسم- واحد- مذکر- قصاب- ونډیمار- هغه څوک چې ځاروی حلالوی، ونډې کوی او بازار کښې ئې خرڅوی-

چاړۀ ګر:(چا-ړۀ-ګر)اسم صفت- واحد- مذکر- لوهار- لوار- هغه څوک چې چړې جوړوی- چړې جوړونکے-

چاړی:(چا-ړی)اسم صفت- واحد- مؤنث- وګورئ چاړا-

چاړی:(چا-ړی)اسم- مؤنث- وګورئ چاړے- (افغانستان)-

چاړے:(چا-ړے)اسم- واحد- مذکر- یو مارغۀ چې دَ ټپوس نه لږ لوئ او سپین تور وی- دَ سپینو او تورو وزرو لرونکے لوئ مارغۀ چې عموماً ځان له ګرځی-

چاړے:(چا-ړے)اسم صفت- واحد- مذکر- کونکے- په تته ژبه خبرې کونکے- مونث چاړی- جمع چاړیان-

چاسکو:(چاس-کو)اسم- مذکر- د سترګو دارو- ښکو-

چاښت:(چاښت)اسم- مذکر- ځلښت-

چاشنی:(چاش-نی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ناشتا- ناشته- (۲)څکه- څکنه- هغه خوراک چې دَ ورېې نه مخکښې خوړلے کیږی- څکه کتنه- خوراۀ کتنه- (۳)مساله- (۴)یود پېچه ساز- کم ساز- پېر لږ ساز-

چاشے:(چا-شے)اسم- واحد- مذکر- کرکرے- اتهرن- خاشے- پېرن-

چاسی:(چا-سی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ چرخی-

چاغ:(چاغ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)تیار- مضبوط- ګرب- ښلپه- جغتې- مړے- تکړه- روغ رمټ- تازه- د روغ بدن خاوند- (۲)تېز- چست- چاغ- چابک- (۳)شور روږ- (۴)تېری- چاک- دړی - دړی شوے لرګے-

ي' (ځی-رل)، ي' (ص-ره-ولّ)، ي' (پيا-ځي)، ېي'(تن-دې) تفصيل د پاره وګورئ: تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

(۵)خاوند - (افغانستان)-
چاغتوب:(چاغ-توب)اسم- مذکر-(۱)څرب والے- چابکي- تيارتوب-
چاغوالے- چاغښت- (۲)چستي- تېري- تېزوالے-
چاغتيا:(چاغ-تيا)اسم- مؤنث- وګورئ چاغتوب-
چاغښت:(چا-غښت)اسم- مذکر- وګورئ چاغتوب-
چاغل:(چا-غل)اسم- واحد- مذکر- بټکے- د ابو لوښے- بټکے- بټک-
چاغوالے:(چاغ-وا-لے)اسم- وګورئ چاغتوب-
چاغول:(چا-غه-ول)مصدر متعدي- (۱)څربول- تيارول- جڅمښول- تکړه کول- تازه کول- غټول- (۲)چاغل- غېرل- دري کول- (۲)تېزول- چستول-
چاغون:(چا-غه-ون)حاصل مصدر- وګورئ چاغول-
چوغونکے (چا-غه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چاغونکي- مؤنث چاغونکې- وګورئ چاغول-
چاغونګ:(چا-غه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چاغول-
چاغونه:(چا-غه-وڼه)حاصل مصدر- وګورئ چاغول-
چاغوه:(چا-غه-وه)حاصل مصدر- وګورئ چاغول-
چاغېدل:(چا-غې-دل)مصدر لازم- (۱)مزے کېدل- جڅمښېدل- تکړه کېدل- تازه کېدل- څربېدل- غټېدل- (۲)څېري کېدل- دري کېدل- ماتېدل- (۳)تېرېدل- چستېدل-
چاغېدن:(چا-غې-دن)حاصل مصدر- وګورئ چاغېدل-
چاغېدنګ:(چا-غې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چاغېدل-
چاغېدنه:(چا-غې-دڼه)حاصل مصدر- وګورئ چاغېدل-
چاغېدونکے:(چا-غې-دون-کے)اسم فاعل- واحد-مذکر- جمع چاغېدونکي- مؤنث چاغېدونکې- وګورئ چاغېدل-
چاغېده:(چا-غې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ چاغېدل-
چاق:(چاق)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)څوربے- تکړه تيار- غټ بټ- غوښين- تندرست- روغ رمټ- جمعت- چاغ- صحت مند- تازه- شلنې- مزے- (۲)چاړه- درز- رخنه- (۳)تېز- تند- چابک- چست- چاغ-
چاق چمند:(چاق-چه-مند)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ چاق چوبند-
چاق چوبند:(چاق-چو-بند)اسم صفت- (۱)تکړه- توانا- غټ- روغ رمټ- چاق چمند- (۲)چست- تېز-
چاقو:(چا-قو)اسم- واحد- مذکر- هغه تېغ چې د خټکي او هندوانې وغيره پربکولو ميوو سپينولو او نورو کارونو کښې بکار راځي- بندېدونکې چاړه- قلم تراش- هغه تېره آله چې پلکے او لاسکے ئې يو موړه وي- چاکو- چکو- چقو- چکی- چکے- کاچو- جمع چاقوان چاقوګان-
چاقوساز:(چا-قو-ساز)اسم- واحد- مذکر- هغه څوک چې چاقوان جوړوي- چاقو جوړونکے- چاکوساز- جمع چاقوسازان-
چاقول:(چا-قه-ول)مصدر متعدي- (۱)ګرندے کول- چاخول- تېرول- (۲)مزے کول- څربول- غټول- (۳)څېري کول- دري کول- ماتول-
چاقون:(چا-قه-ون)حاصل مصدر- وګورئ چاقول-
چاقونکے:(چا-قه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چاقونکي- مؤنث چاقونکې- وګورئ چاقول-
چاقونګ:(چا-قه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چاقول-
چاقونه:(چا-قه-وڼه)حاصل مصدر- وګورئ چاقول-
چاقوه:(چا-قه-وه)حاصل مصدر- وګورئ چاقول-
چاقېدل:(چا-قې-دل)مصدر لازم- (۱)چستېدل- تېزېدل- (۲)تکړه کېدل- مزے کېدل- څربېدل- جڅمښېدل- غټېدل- (۲)څېري کېدل- دري کېدل- ماتېدل- چودل-
چاقېدن:(چا-قې-دن)حاصل مصدر- وګورئ چاقېدل-
چاقېدنګ:(چا-قې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چاقېدل-
چاقېدنه:(چا-قې-دڼه)حاصل مصدر- وګورئ چاقېدل-
چاقېدونکے:(چا-قې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چاقېدونکي- مؤنث چاقېدونکې- وګورئ چاقېدل-
چاقېده:(چا-قې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ چاقېدل-
چاک:(چاک)اسم- مذکر- زخم- شلېدون- شګاف- چاود- خصوصاً د قميص خاک- چود- درز- چوک- خاک- څیر-
چاک:(چاک)اسم- واحد- مذکر- د چونې نه جوړ د ګټې موړه پنسل شان چې په مدرسو کښې پرې په توره تخته ليکل کولے شي- (م- انګريزي)-
چاکتو:(چاک-تو)اسم- مذکر- د يو بوټي دانې چې سفوف ئې خوږو سترګو د پاره استعمالولے شي
چاک چاک:(چاک-چاک)اسم صفت- مرکب- ټوټې ټوټې- سورے سورے
چاکر:(چا-کر اتابع مهمل- وګورئ نوکر-
چاکران:(چاک-ران)اسم- (۱)زخم- شلېدون- شګاف- چاود-
چاکري:(چا-کري)اسم- واحد- مؤنث- ملازمت- خدمت- نوکري- خدمتګاري-
چاکسو:(چاک-سو)اسم- مذکر- چکسو- شکيو- جوجشو- شابکو- د يو يوناني دارو نوم- يو قسم تور تخم چې د سترګو دارو کښې استعماليږي-
چاکلېټ:(چاک-لېټ)اسم- واحد- مذکر- ټافي- هغه د ترو ګولۍ چې ملېښاکې او پستې وي- (م- انګريزي)-
چاکو:(چا-کو)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چاقو-
چاکو ساز:(چا-کو-ساز)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چاقو ساز-
چاکورے:(چا-کو-رے)اسم- واحد- مذکر- (۱)چاکرے نوکر- مونث چاکورې- (۲)بيوبيران-
چاکي:(چا-کي)اسم صفت- واحد- مذکر- چاک لرونکے- درزي- درز لرونکے- چاودلے- شوکېدلے- شکېدلے- مات شوے-

زبر (ح-سه-ره)- ، زورکے (شل)- ، پېښ (مو- کا-ره) ، زېر (ک-ساب-) ، جزم (شکون) ، ه (ر ره)- ، ۀ (يو هې-ده)

چاکې:(چا-کې)اسم- جمع- مؤنث- وګورئ چک چکه-

چاګل:(چا-ګل)اسم صفت- واحد- مذکر- سست او بېکاره- ناراسته- تنبل- کاهل- سست او ناتوانه سړے- مؤنث چاګله-

چاګل:(چا-ګل)اسم- واحد- مذکر- دَ اُبو ووړوکے مشک- دَ اُبو ووړوکے کوزے- دَ اُبو ووړوکے ژے- بنګ - دَ ګډمنې یا کرمېچ تېکے- چاګله-

چاګله:(چا-ګـله)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ چاګل-

چال:(چال)اسم- مذکر- (۱)فریب- دام- مکر- دوکه- ټګی- چم- چل- (۲)تګ- رفتار- ېون- حرکت- (۳)طرز- ډول- طریقه- سلوک- رویه- (۴)عادت- (۵)دَ آس رفتار- (۶)دَ شطرنج په لوبه کښې ګیټی دَ یوې خانې نه بلې خانې ته کونه- دَ لوبې مهرې خوزونه- (۷)دَ تاش ووړومبی پانه ویشتنه- (۸)چال چلن- طریقه- (۹)کار- فعالیت- (۱۰)تے- استغراق- (۱۱)تار- سهیسے- (۱۲)هنر- هیرکی- چالاکی

چال:(چال)اسم- مذکر- (۱)کنده- کوتے- قوتی- قوتے- ژور ځاې- (۲)کومے- کوک- دَ ځلې کوک-

چال:(چال)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)هغه اس چې سره او سپین ویښته لری- چنے- غوچانے- (۲)دَ جولا دوکان- (۳)خاله- منخوله- (۴)زرکه- زاغاوے- دَ هیلی په شان یو مارغه- سائنسی نوم الیکټوریس (ALECTORRIS)- (۵)درنګ- دَ مالګې کان-

چالاک:(چا-لاک)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)مکار- چل باز- ټګ- مکرژن- فریبی- دوکه باز- چتیس- چم باز- چلولی- فرېبکار- کلنکار- کلانکار- اټکلی- (۲)چټک- چُست- تېز- تند- چابک- چاخ- (۳)پوه- نهین- هوښیار- کاڼ- (۴)فعال- تکړه- (۵)رغارېز- (۶)آفت- (۷)دَ خبرو مړنے- نهٔ وېرېدونکے- زړ زړ او په تادی سره خبرې او کار کونکے- (۸)خبرلوڅ-

چالاکی:(چا-لا-کې)اسم- مؤنث- (۱)ټګی- دوکه- چل ول- فرېب- (۲)تېزی- چُستی- چاغ والے- تندی- چابکی- چټکی- (۳)پوهه- هوښیارتوب- (۴)تکړه توب- دَ خبرو مړنے توب-

چالان:(چا-لان)اسم- واحد- مذکر- (۱) جاری- روان- چالو- فعال- روان دوان- په سفر کښې شروع شوے- (۲)پروانه- سمن- بیجک- دَ سامان یا رقم رسید- دَ استولی څیزونو رسید او فهرست- دَ روپو رسید- رادارې- راهداری- اجازت نامه- چالن- دَ یوې محکمې نه بلې محکمې ته استونه- دَ تحقیقات نه پس عدالت ته دَ ملزم روانګی-

چالانول:(چا-لا-نه-ول)مصدر متعدی- (۱)چالان کول- لګول- روانول- پېل کول- (۲)لېږل- استول- ملزم عدالت ته استول- (۳)بندی کول-

چالانون:(چا-لا-نه-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ چالانول-

چالانونکے:(چا-لا-نه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چالانونکی- مؤنث چالانونکې- وګورئ چالانول-

چالانونګ:(چا-لا-نه-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ چالانول-

چالانونه:(چا-لا-نه-ونه)حاصلِ مصدر- وګورئ چالانول-

چالانوهٔ:(چا-لا-نه-وهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ چالانول-

چالانېدل:(چا-لا-نې-دل)مصدر لازم- (۱)چالان کېدل- دَ څهٔ جُرم په وجه عدالت ته وراندې کېدل- (۲)روانېدل- استولے کېدل-

چالانېدن:(چا-لا-نې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ چالانېدل-

چالانېدنګ:(چا-لا-نې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ چالانېدل-

چالانېدنه:(چا-لا-نې-دنه)حاصلِ مصدر- وګورئ چالانېدل-

چالانېدونکے:(چا-لا-نې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چالانېدونکی- مؤنث چالانېدونکې- وګورئ چالانېدل-

چالانېدهٔ:(چا-لا-نې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ چالانېدل-

چالباز:(چال-باز)اسم صفت- واحد- مذکر- ټګ- دوکه باز- دوکه مار- چمباز- چلی- چلناک- تېرایستونکے- چال کونکے- چالاک- هوښیار- عیار- فریبی- چل ولی-

چالبازی:(چال-با-زی)اسم- مؤنث- چالاکی- ټګی- چلول- چالچودی- غداری- فریب- چارسوبیسی- ټګی برګی- (کول مصدر)-

چالتار:(چال-تار)اسم- مذکر- وګورئ چلتار-

چال چلن:(چال-چ-لن)اسم مرکب- طور طریقه- خوې خصلت- عادت- دَ وسېدو انداز- چارچلند- چارچلن- چال چلند- چالمه رنګه- کړه وړه- رنګ رنګ- اخلاق- (۲)سلوک- رویه- راشه درشه-

چال چلند:(چال-چ-لند)اسم مرکب- وګورئ چال چلن-

چال چودی:(چال-چو-دی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ چالبازی-

چالن:(چا-لن)اسم- مذکر- وګورئ چالان-

چالو:(چا-لو)اسم صفت- (۱) چل- چلند- روان- بهاند- چالان- جاری- شروع- (۲)لګېدلے- (۳)کویا- (کول، کېدل مصدرونه)-

چاله:(چا-له)استفهامی ضمیر- چا دَ پاره- چا ته-

چاله:(چا-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)طرز- روش- طریقه- لار- قاعده- اُصول- رفتار- (۲)سهینه- (۳)غټه اسپه- لویه اسپه-

چالی:(چا-لی)اسم صفت- واحد- مذکر- ټګ- چلی- چل ولی- دوکه باز- چل باز- فرېبکار- چلباز- چم باز-

چالی:(چا-لی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پټېړه-

چام:(چام)اسم صفت- واحد- مذکر- کوږوږ-

چامارغ:(چا-مارغ)اسم- واحد- مذکر- غُز- اکوړ- دَ نباتاتی نوم دَ پاره وګورئ غُز-

چامبه:(چام-به)اسم- مؤنث- چامبېل- رامبېل- چمبه-

چامبیره:(چام-بی-ره)اسم- واحد- مؤنث- لویه ټوکره- پکره- دَ خاورو لوټو لوئ چم-

چامبېل:(چام-بېل)اسم- واحد- مذکر- یو ډول ورکوټے سپین ګل چې پېر ښهٔ بوئ کوی نور قسمونه ئې هم شته خو سپین قسم کښې پېر پېدا کېږی-

ێ (ښې-رڼ)، ې(ښې-ره-وڼ)، ی(یپا-لی)، ے(تن-دی) تفصیل دَ پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

چامبېلے- چامبېلی- نباتاتی نوم جېسمينم ګرېنډيفلورم (JASMINUM -GRANDIFLORUM)

چامبېلے:(چام-بې-لے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چامبېل-

چامپ:(چامپ)اسم- (۱)يو قسم خونده ور خوراک چې د آلو، کوفتې، رنګ رنګ مسالو او د دالو د اوړو څخه تيارولے شي دا څيزونه په قالبونو کښې اچوی او په کړهی کښې ې سره کوی- (۲)د غوښې نرۍ نرۍ ټرشې چې په کړهی کښې سرې کولے شي-

چامپه:(چام-په)اسم- مؤنث- (۱)لپه- چپه- موټ- (۲)د وېدوالی يو مقياس- (۲)پنجه- چمبه- چانبه- چانپه- جمع چامپې-

چامته:(چام-ته)اسم- مؤنث- وګورئ چمته-

چامه:(چا-مه)اسم- مؤنث- بدله- غزل- (م- فارسی)-

چـامـه ګـو:(چـا-مـه-ګـو)اسم صفت- واحد- مذکر- بـدلـی- بـدلـه زن- شاعر-(افغانستان)-

چان:(چان)اسم- مذکر- (۱)د کليسا ټلی- د کليسا زنګ- د کليسا ژنګ-

چان:(چان)اسم- مذکر- جان-

چانبه:(چام-به)اسم- مؤنث- (۱)وګورئ چامپه- (۲)د ميزری د بوټی ډېه-

چانبېل:(چام-بېل)اسم- مذکر- وګورئ چامبېل-

چانپه:(چام-په)اسم- مؤنث- وګورئ چامپه-

چانته:(چان-ته)اسم- مؤنث- وګورئ چمته-

چانټه:(چان-ټه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د کارتوسو وغېره پېټۍ چې ملا نه تاوولے شي- څولی- شخولی- ګردنی- غاړکی- (۲)پوستې- کارتوسکے- جمع چانټې-

چانجلے:(چانج-لے)اسم- واحد- مذکر- خوړلے شوې ګېډه- چنجل-

چانچور:(چان-چور)اسم- واحد- مذکر- کونی- د ماشومانو يو قسم لوبه چې د غزانو په پوستکو کولے شي-

چانچو پانچو:(چان-چو-پان-چو)اسم صفت- کمزورے- اپوکی اپوکی- ټپ ټپه- نرے پرے-

چانداش:(چان-دا-ښی)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)غوښه خور- (۲)نفسانی- شهوت ناک-

چاندماری:(چاند-ما-ری)اسم- مؤنث- چارماری- چلماری- نښې ويشتنه- نشانه بازی- چرماری- د ټوپک او نورو وسلو په ګوليو سره د چا وژنه- چال ماری- د فوځيانو نښه ويشتنه- د نښې ويشتو پرېکټس-

چاندی:(چاند-ني)اسم- واحد- مؤنث- (۱)روجائے- د غالی پوښ- د قالينې پوښ- روی کش- روی پوښ- هغه ټوکره چې پرې بستر، قالين او نور څيزونه هواروی-

چاندی:(چان-دی)اسم- مؤنث- (۱)يو سپين دهات چې کالی او روپۍ ترې نه جوړولے شي- کم اصل زر- سپين زر- (۲)سوچه- پاک- نېټولے- کره- بې عيبه- بې وټه- بې غشه- صادق- سپېځلے- سپين زړے- خالص-

چانېو:(چان-ېو)اسم- مذکر- يو قسم نشه چې افيون (تارياک) په اُبو کښې پخولے او چلم کښې څښلے شي- چنډو- چانډو-

چانوه:(چان-وه)اسم- واحد- مؤنث- جمع چانوې- (۱) قاش- دړه- نيلمه- نيله- ټنګره- ټنګه- تړازه- ترورزه- منډه- چنډه- ترټنه- (۲)حصه- برخه- ګوا- (۲)ټوټه ټوټه-

چانړی:(چان-ړی)اسم- مؤنث- (۱)رنکته- (۲)په غېږ کښې- (بلوچستان)-

چانری:(چان-ری)اسم- مؤنث- کوزکزکی-

چانس:(چانس)اسم- واحد- مذکر- (۱)تصادف- (۲)شانس- وار- نمبره- موقع- (۲)بخت- طالع- اقبال- (۴)بورس- برس- (۵)چال- چم- ټکی- فريب- جمع چانسونه- (م- انګريزی)-

چانسلر:(چانس-لر)اسم- واحد- مذکر- (۱)د يونيورسټۍ د ټولو نه لوې عهدېدار- (۲)د جرمنی صدرِ مملکت- (م- انګريزی)-

چانسی:(چان-سی)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)چم باز- چلی- چلباز- فرېبکار- (۲)- خوش قسمته- خوش بخته- طالع من- د چانس/شانس خاوند-

چانګ:(چا-نګ)اسم- واحد- مذکر- چانبنګ- هغه لوښے چې پخې چای پکښې اچولے شي-

چانکے:(چانه-کے)اسم- واحد- مذکر- چانبک- نلی- (بادګير)-

چانګ وانګ:(چانګ-وانګ)صفت- خورووړ- چنګ ونګ-

چانے:(چا-نے)اسم- واحد- مذکر- د اُبو څښلو لوښے-

چانے:(چا-نے)صفت- ورچانے- بهر- بيرون- ورځنې- (افغانستان)-

چاڼ:(چاڼ)اسم صفت- مذکر- سوتره- سُتره- صاف شوے- پاک شوے- پاک- غلبېل شوے- کره شوے-

چاڼ:(چاڼ)اسم- واحد- مذکر- (۱) غلبېل- چڼورنے- څڅکے- چچ- (۲)لټون- تلاش- څېړنه- (۲)خوښونه- انتخابونه-

چاڼ چاڼ:(چاڼ-چاڼ)اسم صفت- مرکب- مذکر- (۱) غلبېل غلبېل- سورے سورے- (۲)نرۍ نرۍ- لو لو- چوږ-

چاڼول:(چا-ڼه-ول)مصدر متعدی- (۱)سُتره کول- کره کول- پاکول- صفا کول- (۲)غلبېلول- چڼول- زنځول- د غلبېل يا زروکی نه ايستل- (۲)انتخابول- خوښول- غوره کول- (۴)پلټول- چڼول- تحقيقات کول- معلومول- جاج اخستل- لټول- کتل- د څۀ څيز په لټون کښې پېر کرځېدل-

چاڼون:(چا-ڼه-ون)حاصل مصدر- وګورئ چاڼول-

چاڼونکے:(چا-ڼه-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چاڼونکي- مؤنث چاڼونکې- وګورئ چاڼول-

چاڼونګ:(چا-ڼه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چاڼول-

چاڼونه:(چا-ڼه-ونه)حاصل مصدر- وګورئ چاڼول-

چاڼوۀ:(چا-ڼه-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ چاڼول-

"زبر"(غ-بـۀ-ره)، "زورکے"(شل)، "پېښ"(نو-کا-ره)، "زېر"(کـ-تـاب)، "جزم"(شکون)، "ه"(ز-وه)، "ۀ"(پو-ښي-دۀ)

www.pukhto.net

چاڼه:(چا-ڼَه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)هغه ورکوټې چاڼ چې تېل، چایْ یا غوړي ترې چاڼولی شي- چاڼې- چاڼی- (۲)هغه واړه لرګی چې دَ تیرونو او برګو دَ پاسه کېږ کېږ اچولی کیږي- چاڼ- چڼ- چاڼي- وسک- کودره- وسې- وسکې- جمع چاڼې-

چاڼي غوږې:(چا-ڼي-غوږې)اسم- واحد- مذکر- دَ بمبړې مومره الوتونکې یو بنکرور کونګټ چې زیاتره دَ انځر وَنو کښې پیدا کیږي-

چاڼېدل:(چا-ڼې-دَل)مصدرِ لازم- چاڼ کېدل- چڼېدل- سوتره کېدل- سُتره کېدل- صفا کېدل- کره کېدل- پاکېدل- (۲)ښیښېدل- چونډېدل- معلومېدل- تحقیقات کېدل- (۳)خوښېدل- غوره کېدل-

چاڼېدن:(چا-ڼې-دَن)حاصلِ مصدر- وګوری چاڼېدل-

چاڼېدنګ:(چا-ڼې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګوری چاڼېدل-

چاڼېدنه:(چا-ڼې-دَ-نَه)حاصلِ مصدر- وګوری چاڼېدل-

چاڼېدونکې:(چا-ڼې-دُوَن-کې)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع چاڼېدونکي- مؤنث چاڼېدونکې- وګوری چاڼېدل-

چاڼېدهٔ:(چا-ڼې-دَهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګوری چاڼېدل-

چاڼی:(چا-ڼي)اسم- واحد- مؤنث- چېروڼې- چاڼ- چڼ-

چاڼی:(چا-ڼي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)چوڼی- (۲)وګوری چاڼه-

چاڼې:(چا-ڼې)اسم صفت- واحد- مذکر- ښکره ور غوټې- هغه غوټې چې لویْ لویْ ښکرونه لري- (۲)غوځانې- نر کونګټ-

چاڼې:(چا-ڼې)اسم- واحد- مذکر- وګوری چاڼه-

چاڼې:(چا-ڼې)اسم- مذکر- کنګل- کنګر- یخ-

چاوجی:(چاوْ-جي)اسم- مؤنث- چاوجې- ګنډه- زی- کناره-

چاوچاو:(چاوْ-چاوْ)اسمِ صوت- چغارې- چو چو- چون چون-

چاود:(چاوْد)اسم- مذکر- (۱)چاک- چود- چودون- درز- شګاف- چاودون- څیر- (۲)چو- (۳)تړ-

چاودل:(چاوْ-دَل)مصدرِ لازم- (۱)په څهٔ څیز کښې درز راتلل- تړکېدل- چیر پکښې پیدا کېدل- دوه خایه کېدل- خلاصېدل- (دَ بم یا دَ بارودی سرنګ)-

چاودلې:(چاوْ-دَ-لې)اسمِ مفعول- واحد- مذکر- وګوری چاودل-

چاودن:(چاوْ-دَن)حاصلِ مصدر- وګوری چاودل-

چاودنګ:(چاوْ-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګوری چاودل-

چاودنه:(چاوْ-دَ-نَه)حاصلِ مصدر- وګوری چاودل-

چاودول:(چاوْ-دَ-وَل)مصدرِ متعدی- (۱)چوول- الوزول- (۲)درز کول- چاود پکښې پیدا کول-

چاودون:(چاوْ-دُوَن)اسم- وګوری چاود-

چاودونکې:(چاوْ-دُوَن-کې)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع چاودونکي- مؤنث چاودونکې- وګوری چاودل-

چاودهٔ:(چاوْ-دَهٔ)اسم- مؤنث- جمع چاودې- دَ یخنی لهٔ کبله دَ لاسو او پښو دَ څرمنې چاودهٔ-

چاودهٔ:(چاوْ-دَهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګوری چاودل-

چاودینګ:(چاوْ-دی-نګ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)سپین سترګې- بې حیا- بې شرم- چاولې- ورانکارې- اېغ نېغ- شریر- (۲)هوائی غشې-

چاوډېدل:(چاوْ-ډې-دَل)مصدرِ لازم- دوه خایه کېدل- درز کېدل- تړکېدل- سره چودل- منفجره کېدل-

چاودې:(چاو-دې)اسم صفت- واحد- مذکر- تړکېدلې- چاودلې- چې درز يې کړې وی-

چاودې:(چاوْ-دې)صفت- (۱)چاودلې- چادو- چاک- چودلې- درز- (۲)چاودې سترګې- رنده سترګې-

چاودې چاودې:(چاوْ-دې-چاوْ-دې)اسم صفت- مرکب- سُورې سُورې- درزونه درزونه-

چاوزیګ:(چاو-زیګ)اسمِ صوت- غوا ته دَ اُبو څښلو اواز-

چاوش:(چا-وش)اسم- واحد- مذکر- (۱)ستر مشر- نقیب- (۲)ورساتونکې- دربه- دربان- څوکیدار- (م- ترکی)-

چاوښ:(چا-وښ)اسم- ګاهره- ګهاړه-

چاول:(چا-وَل)اسم- واحد- مذکر- دَ ابو موری- دَ اُبو خُله- دَ اُبو ورخ- دَ اُبو دانه-

چاول:(چا-وَل)اسم- واحد- مذکر- دَ ګلکارانو هغه آله چې پهٔ تار کښې زوړنده وی او دَ لګېدلو خښتو سمون او نېغوالې پرې برابر وی- شال- سال- ځال- شاول- شاتول- جمع چاولونه-

چاوله:(چاوْ-لَه)اسم- واحد- مؤنث- ورخ- چاول- دَ اُبو زَو- دَ اُبو دانه- دَ ولې خُله- دَ اُبو دهنه- دَ اُبو موری-

چاولې:(چاو-لې)اسم- واحد- مذکر- چچ- جمع چاولي-

چاولې:(چاوْ-لې)اسم- واحد- مذکر- وګوری چودینګ-

چاونی:(چاوْ-نِي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- چوني- فوځي کوټ یا قلا-

چاوه:(چا-وَه)اسم- مؤنث- هغه خوږه جوشانده چې دَ زکام او توخی دَ پاره استعمالولی شي-

چاوی:(چا-وِي)اسم- واحد- مذکر- تبر- تبرګې- جمع چاویان-

چاه:(چاهْ)اسم- واحد- مذکر- کوهې- کوهی- کوهې-

چایْ:(چایْ)اسم- جمع- مؤنث- چایْ- چې- چی- یو قسم بانې چې ګوړې یا چینو او پیوْ سره پهٔ اُبو کښې یشولی او څښلی شي- توري او شنې دوه رنګونو کښې پیدا کیږي-

چایجوش:(چایْ- جوش)اسم- واحد- مذکر- وګوری جاجوش-

چایْ خوری:(چایْ-خو-ري)صفت- (۱)دَ چایْ- دَ چایو- هغه څهٔ چې پهٔ چایو څښلو پوری اړه لري- (افغانستان)-

چایْ خوری:(چایْ-خو-ري)اسم- مؤنث- (۱)جوري چایْ- پخ شوي چایْ- پخې

ګ= (ځي-وَل)، ګ= (ځي-رو-وَل)، ګی= (پیا-لی)، ــے= (تن-دې) تفصیل دَ پاره وګوری تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

شوي چايُ- (۲)دَ چائيو ښښلو پياله-

چائېخوش:(چايْ-خوش)اسم- واحد- مذكر- وګورئ چاجوش-

چايل:(چا-ئيل)اسم- واحد- مذكر- برقع- پرده- روبند- نقاب- روىُ بند- (۲)پړوړي-

چائېنک:(چايْ- نک)اسم- واحد-مذكر- وګورئ چانک-

چائېنکه:(چايْ-نه-که)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ چائېنک-

چبی:(چَ-بی)اسم- واحد- مؤنث- شکور-

چبين:(چه-بين)اسم- وګورئ چبيني-

چبين خور:(چه-بين-خور)اسم صفت- واحد- مذكر- دَ هر څيز خوراکي- پېر خوراک کونکے- پهٔ غوړو، ترږو او ترسکونو خوراکونو مئين-

چبيني:(چه-بی-ني)اسم- جمع- مؤنث- غوړ او تر خوراکونه- چنې چبيني- دَ خوراک څيزونه- ترڅکون خوراکونه- چبين-

چبېدل:(چَ-بې-دل)مصدرِ لازم- کوږ کوږ تلل- خان پسې ېښې راکښل-

چبېدن:(چَ-بې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ چبېدل-

چبېدنګ:(چَ-بې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ چبېدل-

چبېدنه:(چَ-بې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ چبېدل-

چبېدونکے:(چَ-بې-دُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذكر- جمع چبېدونکي- مؤنث چبېدونکې- وګورئ چبېدل-

چبېدهٔ:(چَ-بې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ چبېدل-

چپ:(چَپ)اسم- مذكر- (۱)بې لارې- خطا- غلط- (۲)سپک- بد- (۳)ضد- مخالف- (۴)کين- کس- اُړولے- دَ ښي ضد- لهوټه- (۵)- بنفېر- بې لهٔ دې- (۲)کوږ- راکوږ-

چپ:(چَپ)اسم- کوکي احستنه- مچه احستنه- چپونه- ښکلونه- څپ- چپه احستنه-

چپ:(چَپ)اسم صوت- دَ روټۍ خوړولو پهٔ وخت دَ خلې آواز-

چُپ:(چُپ)اسم صفت- واحد- مذكر- (۱)غلے- خاموش- ساکت- چوپ- پټه خله- چپه خله- (۲)بې اوازه- بې ږغه- بې غږه- (۲)فعلِ امر- غلے شه- خاموش شه-

چپا:(چَپا)اسم- واحد- مذكر- وګورئ چپک ۲-

چپاتی:(چَ-پا-تی)اسم- جمع- مذكر- څوکی- ورې روټۍ- ګلچې- چپاتی-

چپاتی:(چَپا-تی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- هغه وړه سپکه، ګرده او پلنه روټۍ چې پهٔ تبخې يا تنور پخولے شي- پنجابي روټۍ- څپاسته- څپتې- چپاتے- پاستی- چپاتی- چپيت- ګلچه-

چپاتے:(چَپا-تے)اسم- واحد-مذكر- وګورئ چپاتی-

چپاته:(چَ-پا-ته)اسم- مؤنث- کپی- يو قسم پنې يا موچنې- يو قسم پيزار- جمع چپاتې-

چپاته:(چَپا-ته)اسم- واحد- مؤنث- چپټه- حمله-

چپاتی:(چَ-پا-تی)اسم- مؤنث- ټوقې- ملنډې -ټوقې ټکالې- مسخرې- وشتې- ټوقې ټکالې- ټوکې- (کول/کېدل مصدرونه)-

چپالی:(چَه-پا-لی)اسم- واحد- مؤنث- وبا-

چپاړ:(چه-پاړ)اسم- (۱)تباهي- لوټ مار- يرغل- تېزه حمله- چاپه- چپه- دَ حملې پهٔ وخت کښې تېز تګ- ناڅاپه حمله- (۲)بربـاد- (۲)برګ آس- ببور آس- هغه آس چې پټې پټې او برګ بروګ وي- (اچول/ کول/ کېدل مصدرونه)-

چپاول:(چَ-پا-ول)اسم- مذكر- مخکښيني دسته- وړومبی دسته- دَ فوځ دَ مخې دسته- مخکښينے ټولے- دَ سر ټولے- پهٔ فوځ کښې هغه ټولے چې دَ نورو لښکرو نه مخکښې روان وي-

چپاول:(چَ-پا-ول)اسم- مذكر- لوټ- تالان- تاراک-

چپاوول:(چَ-پا-وو-ل)مصدرِ متعدي- تالا کول- لوټ کول- تالا ترغه کول- غارت کول- چوړول- يرغل کول- تالا ترغه اچول- چپاړ کول-

چپاوون:(چَ-پا-وو-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ چپاوول-

چپاوونګ:(چَ-پاو-وونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ چپاوول-

چپاوونه:(چَ-پاو-و-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ چپاوول-

چپاوونکے:(چَ-پا-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذكر- جمع چپاوونکي- مؤنث چپاوونکې- وګورئ چپاوول-

چپاووهٔ:(چَ-پا-وو-وهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ چپاوول-

چپاوی:(چَ-پا-وی)اسم صفت- چپاړ کونکے- لوټ مار کونکے- تالا کونکے- غارت کونکے- لوټونکے- تالا ترغه کونکے- تالاني- يرغل کونکے- تاراجونکے- چوړونکے- (۲)کږې خيال- غېر مستقل مزاجه- (۲)تُند- تېز- چابک- (۴)دَ چپاړ- (۵)سرزورے او سرټمبه-

چپاوېدل:(چَ-پا-وې-دل)مصدرِ لازم- تالا کېدل- لوټ کېدل- تالا ترغه کېدل- لوټېدل- تاراجېدل- چور کېدل- تالا کېدل- چوړېدل-

چپاوېدن:(چَ-پا-وې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ چپاوېدل-

چپاوېدنګ:(چَ-پا-وې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ چپاوېدل-

چپاوېدنه:(چَ-پا-وې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ چپاوېدل-

چپاوېدونکے:(چَ-پا-وې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذكر- جمع چپاوېدونکي- مؤنث چپاوېدونکې- وګورئ چپاوېدل-

چپاوېدهٔ:(چَ-پا-وې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ چپاوېدل-

چپايْ:(چَپايْ)اسم- واحد- مؤنث- تابع مهمل- وګورئ چپه چپايْ-

چپتره:(چَ-پت-ره)اسم- واحد- مؤنث- چوتره- يو بوټے چې دَ ساګ پهٔ شان پخولے شي- جمع چپترې- نباتاتي نوم ستړس ګرېنډس اېل اسبک- (CITRUS GRANDIS T' OSBECK)-

چپتری:(چَ-پت-ری)اسم- مؤنث- د شفتلو پهٔ شان يو قسم شينکے بوټے-

چپتوب ا:(چُپ-توب)اسم- مذكر- چوپتيا- چوپوالے- چپوالے- خاموشي-

چوپیا- چهتیا- قلاری- قلاره قلاري- غلی والی-

چهټوب ۲:(چَہ-توب)اسم- مذکر- (۱)مخالف والی- مخالفت- ضدیت- ضدوالی- (۲)کوږوالی- (۳)بې لارې توب- ګمراه توب- د مترقي عقیدې لرنه-

چهتیا:(چُہ-تیا)اسم- مؤنث- وګورئ چهټوب ۱-

چهتیا:(چَہ-تیا)اسم- مؤنث- وګورئ چهټوب ۲-

چهټ:(چَ-ہټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)اشر- بسکر- بلندره- بیګره- بګاره- تړ- بېګار- مردجوی-

چهټ:(چَ-ہټ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)غټ- تکړه او صحت مند ملګ- چېرغټه- تندرست سړی- (۲)څرګند- ښکاره- معلوم- څیټه- (۳)امین- صادق- (۴)تباه- تالا- برباد-

چهټ:(چُہ-ہټ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)مسخراچی- ټوقمار- ټوکی- ټوقی- دوره مار- دورې مار- مسخرې کوونکی- ملنوی- (۲)کړېدونکی- قړتو- قرتن- غورتن- جمع چهټي/چهټیان- مؤنث چهټه-

چهټه:(چُ-ہه-ټه)اسم- مؤنث- چوبټه- هغه لرګي چې د تیرو په دېوال کښې د څو ږدو لګولو نه پس د دېوال او د اوږدو لرګو د ټینګولو او مضبوطولو په غرض لګولی شي-

چهټه:(چَ-ہه-ټه)اسم- مؤنث- حمله- هڅه- چاپه-

چپ چاپ:(چپ-چاپ)اسم صوت- د ښکولو اواز- چړپ چړوپ- ټپ-

چپ چاپ:(چُپ-چاپ)صفت- قلار- خاموش- غلی- دم بخود- دم په خود- ارام- په پټه خله-

چپ چاپېره:(چپ-چا-پې-ره)صفت- چاپېره- چارچاپېره- څوارشا- ګېر چاپېره- تاؤراتاؤ- یو خوا بل خوا- ګردا ګرد- چاپ چاپېره- چورچوپېره- چاپېر-دورادور-

چپ چله:(چپ-چه-له)اسم- مؤنث- (۱)چترې- چکره- (۲)ښونېدونکي- (ف- فارسی)-

چپ چوپ:(چپ-چوپ)صفت- مذکر- مات ګړ- ټوټې ټوټې- چپ راچپ-

چپ چور:(چپ-چور)اسم صفت- (۱)چوری چوری- ټوټې ټوټې- ریز مریز- چرچور- ذرې ذرې- مات شوی- (۲)لوټ- تالا ترغه-

چپ دپ:(چپ-دپ)صفت- مذکر- چپ چاپ- خاموش-

چهر:(چَ-ہر)اسم- واحد- مذکر- (۱) زری- قاصد- خرې- خبری- استازی- رېبار- پېغام وړونکی- (۲)تېز او ګرندی تلونکی- چابک-

چهر:(چَ-ہر)اسم- واحد- مذکر- څهری- څالی- چوپړی- کوږی- سالی- سوله- څهر- جونګړه- چومړی- څونه- د وښو او پترې نه جوړ شوي دالان- د لوخو او کیانو کچه جونګړه-

چهراس:(چہ-راس)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه د اوسپنې پیچی پټۍ چې د چوکاټ او دروازې ته مېنځ لګولی شي او د دې په ذریعه دروازه لرې کولی او بندولی شي- قبضه- (۲)ښې او ګس (کین)- (۳)سینې د پاسه لګېدلې هغه د اوسپنې تکړه چې خان پرې د دشمن د حملې نه بچ ساتلی شي-

چېراس:(چېہ-راس)اسم- واحد- مذکر- د چپراسي توب یا اردلي توب تمغه چې په کمربند کښې لګېدلې وي-

چېراسی:(چېہ-راسی)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چپراسي-

چېرتاخ:(چَ-ہر-تاخ)اسم- چېرتاخ- یو کنځل-

چېرغټ:(چَ-ہر-غټ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)مضبوط- تیار- څورب- څرب- چاغ- غټ- ساتلی- چروب- (۲)چاغ سړی- روغ ملګ- (۳)کوکر-

چېرکټ:(چَ-ہر-کټ)اسم- واحد- مذکر- کهرکټ- د نوارو کټ- د پټو کټ- جمع چېرکټونه-

چېرکی:(چَ-ہر-کی)اسم- مذکر- وګورئ چېړکی-

چېرکی:(چَ-ہر-کی)اسم- مذکر- څېلانګه- څېلی- وړه ځانګه- د ونې نه را پرېکړې شوی وړه ځانګه-

چېره:(چہ-ره)اسم- مؤنث- د ګرمني د پاکولو لوی رمبی-

چېړی:(چہ-ړی)اسم- واحد- مذکر- چېړی- وړوکی پنډ- وړوکی تالاؤ- وړکوټی حوض-

چېړی:(چہ-ړی)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چېه-

چېړ:(چَ-ہړ)صفت- مذکر- (۱)چپلیت- هوار- پلن- (۲)چیت پیت- بیخي اپریت چپریت- (۳)څپرو- د پښې تلی- د پښې ورغومی- (۴)غټ او څرب (څاروی)- څورب- چاغ- ښلنړ- ساتلی-

چېړاخه:(چہ-ړا-خه)اسم- واحد- مؤنث- چاپېره- چپلاخه- څپېره- تڅوړه- چېړاکه- څپلاخه- څاپېره- څپره- چاپړاخه-

چېړاستوب:(چہ-ړاس-توب)اسم- مذکر- د چپراسي کار-

چېړاسی:(چہ-ړاسی)اسم- واحد- مذکر- خدمتګار- پیاده- چپراسي- خادم- ملازم- امربر- هغه نوکر (سرکاري یا غیر سرکاري) چې د دفتر کار کوي- اردلي-

چېړاکه:(چہ-ړا-که)اسم- مؤنث- وګورئ چېړاخه-

چېړبخ:(چَ-ہړ-بخ)اسم- مذکر- وګورئ چېړتاخ-

چېړپوندی:(چَ-ہړ-پون-دی)اسم صفت- واحد- مذکر- بې کاره سړی-

چېړتاخ:(چَ-ہړ-تاخ)اسم- مذکر- چینډرو- چنډرو- چېړبخ- چغی- چینډری- موچی- چېړدخ- جنت او دوزخ- چیتی- تمبی- د ماشومانو یو قسم لوبه (۲)د زنانو اندام نهاني (تحقیراً)- چېړتاخ-

چېړدخ:(چہ-ړ-دخ)اسم- مذکر- وګورئ چېړتاخ-

چېړلاسی:(چَ-ہړ-لاسی)اسم صفت- واحد- مذکر- خرچی-

چېړوس:(چہ-ړوس)اسم صفت- واحد- مذکر- خوشامندګر- خوشامندی- غوړه مال- چاپلوس- تملق- چاکلیتی-

چېړوسي:(چہ-ړو-سي)اسم- مؤنث- خوشامندي- بوټ پاکي- تملق توب- چاپړوسي- چاپلوسي- غوړه مالي-

چېړول:(چہ-ړ-ول)مصدر متعدي- وګورئ پېټول-

www.pukhto.net

چېړی:(چې-ړی)اسم صفت- مؤنث- چېړه- ماتده او خواره غوښه- ماتده او ړنګره غوښه- پيپړک- پيپړه-

چېړيت:(چې-ړيت)اسم- مذکر- يو قسم کارتوس- چېړيت کارتوس- جڼ جڼ-

چېړيتول:(چې-ړی-تـه-وَل)مصدر متعدی- چهليتول- چيټي کول- کښېمنډل- زور ورکول- چخړی کول- چيټول- چخښی کول- يو څيز له دومره زور ورکول چې شکل ئې وران او چيټ پيټ شي-

چېړيتون:(چې-ړی-تـه- وَن)حاصل مصدر- وګوری: چېړيتول-

چېړيتونکے:(چې-ړی-تـه-وُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری: چېړيتول-

چېړيتونګ:(چې-ړی-تـه-وُنګ)حاصل مصدر- وګوری: چېړيتول-

چېړيتونه:(چې-ړی-تـه-وُنـه)حاصل مصدر- وګوری: چېړيتول-

چېړيتوۀ:(چې-ړی-تـه-وۀ)حاصل مصدر- وګوری: چېړيتول-

چېړيخ:(چې-ړيخ)صفت- مذکر- چيټ پيټ-

چېړۍ:(چې-ړۍ)اسم- جمع- مؤنث- وګوری: چهکۍ-

چېړی چېړو:(چې-ړی-چې-ړو)اسم- واحد- مؤنث- لته او سسته ښځه- ناراسته ښځه- سسته ښځه- سپاړه ښځه-

چېړے:(چې-ړے)اسم- واحد- مذکر- چُوڼ- چوپړن-

چېق:(چې-ق)اسم- الوزونه- راکښنه-

چهک:(چې-هک)اسم صفت- واحد- مذکر- اتښتے- تښتے-

چهک:(چې-هک)اسم صفت- واحد- مذکر- چپ سترګے- دُ کږو سترګو خاوند- چپے- کاڼے- کاږه- بينګا- عين و غين- چپا- قپا- چنګر- چڼر- چقړ- چکړ- چحوړ- جمع چهکی/چهکيان-

چهک:(چې-هک)اسم- واحد- مذکر- چيپک- باز- دُ چړي ماده- يو قسم ښکاری مارغۀ-

چهکتوب:(چې-هک-تُوب)اسم- مذکر- چهکتيا- دُ سترګو کوږوالے- دُ سترګو چپوالے- دُسترګو کږوالے- دُ سترګو بينګوالے-

چهک سترګے:(چې-هک-ستَر-ګے)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه سړے چې سترګې ئې چپې وی- چپے-

چهکتيا:(چې-هک-تيا)اسم- مؤنث- وګوری: چهکتوب-

چهکو:(چې-هې-کو)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه څوک چې زيات کار پۀ کس لاس کوی- کيڼ لاسے- چپے- چپ لاسے- کسے- کس لاسے- کس متے-

چهکه:(چې-هـ-که)اسم- مؤنث- څپاکه- چلکه- تاپی-

چهکه:(چې-کـه)اسم- مؤنث- بوسه- مچه- چچی- پچه- کوکی-

چهکۍ:(چې-هـ-کۍ)اسم صفت- مؤنث- (۱)کوږې ووږې سترګې - (۲)هغه سترګې چې پکښې ګل وی-

چهل:(چې-هل)اسم صفت- واحد-مذکر- خيرن- خچن- ګنده- (فارسی)-

چهل:(چه-هل)اسم- واحد- مؤنث- چپلکه- کپړی- څپلکه- سرپانی- چوستکه- چپاتی- چپاته- يو قسم سپک پيزار-

چېلاخه:(چې-لا-خه)اسم- مؤنث- وګوری: چېړاخه-

چهلاسی:(چې-لا-سی)اسم- واحد- مذکر- وګوری: چېړاسی-

چهلکه:(چې-لـه-که)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: چپل-

چهليت:(چې-ليت)صفت- مذکر- چپړ- چيټ پيټ- چخپيت- چېړيت- اوار- هوار-

چهليتول:(چې-هـ-لی-تـه-وَل)مصدر متعدی- چېړيتول- اُوارول- چخپيتول- هوارول- چيټول- چيټ پيټ کول- چيټ پيتول- چپړ کول-

چهليتون:(چې-هـ-لی-تـه-وَن)حاصل مصدر- وګوری: چهليتول-

چهليتونکے:(چې-هـ-لی-تـه-وُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری: چهليتول-

چهليتونګ:(چې-هـ-لی-تـه-وُنګ)حاصل مصدر- وګوری: چهليتول-

چهليتونه:(چې-هـ-لی-تـه-وُنـه)حاصل مصدر- وګوری: چهليتول-

چهليتوۀ:(چې-هـ-لی-تـه-وۀ)حاصل مصدر- وګوری: چهليتول-

چهليته:(چې-هـ-لی-ته)اسم صفت- مؤنث- چهليت- رانيلې شوې- وهلې ټکولې- چيټه پيټه- اواره- هواره-

چهليخول:(چې-هـ-لی-خـه-وَل)مصدر متعدی- چيټ پيټ کول- چيټ پيټول- چېړی کول-

چهليخون:(چې-هـ-لی-خـه-وَن)حاصل مصدر- وګوری: چهليخول-

چهليخونکے:(چې-هـ-لی-خـه-وُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری: چهليخول-

چهليخونګ:(چې-هـ-لی-خـه-وُنګ)حاصل مصدر- وګوری: چهليخول-

چهليخونه:(چې-هـ-لی-خـه-وُنـه)حاصل مصدر- وګوری: چهليخول-

چهليخوۀ:(چې-هـ-لی-خـه-وۀ)حاصل مصدر- وګوری: چهليخول-

چهلۍ:(چ-هه-لۍ)اسم- جمع- مؤنث- راحد چهله- چېړۍ- چپلې- چپراتې- چې صرف تلے وی او دُ پلمه پرې تسمې يا پيازمې شان اړولې وی او دُ ګرت ځاۍ پکښې وی-

چهلی:(چې-هـ-لی)اسم- مؤنث- وګوری: څپلی-

چهن:(چ-هن)اسم- واحد- مذکر- چپتيا- خاموشی-

چهن:(چ-هن)اسم- واحد- مذکر- (۱)وګوری: چهنه- (۲)قادری-

چهن:(چو-هن)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه سړے چې سترګې ئې چونی وی- شړ- چوپړن- زوبن-

چهنه:(چ-هن-نه)اسم- واحد- مؤنث- دَ لرګی کاسه- دُ لرګی کنډولے- پوټی- جمع چهنۍ-

چهنګ:(چ-هـ-نګ)اسم- واحد- مذکر- دُ ماشومانو چوغه- دُ وړو چهنه- وړه څپنه- دُ کوچنيانو څپنه-

چهن وزمه پوښ:(چ-هن-وز-مه-پوښ)اسم مرکب- کوسے- ګوړے- لۀ کراستې ځخه جوړ لستونی لرونکے پوښ چې د شوقې يا چوغې پۀ شان پوښ لری- (افغانستان)-

چهنه:(چ-هـ-نه)اسم- واحد- مؤنث- چوغه- چهن- خلکه- قبا- چوپانه- شوقه- خرقه- جوغه- خلقه- شوکه-

چهنه:(چ-هـ-نه)صفت- مؤنث- چهليته- چېړيته- اواره- هواره- چخپيته-

چپته- چپته پپته-
چپو :(چ-پُو)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ بېړۍ چپه- سپنګاوړ- دَ کشتۍ چلولو چپه- دَ بېړۍ چلولو ځپه- پنګرۍ- (۲)چپاړ- تېرے- حمله-
چپوالے :(چَپ-والے)اسم- مذکر- مخالفت- چپتيا- غلطي- ټګي- چپتوب-
چپوالے :(چَپ-والے)اسم- مذکر- چوپتيا- خاموشي- چپتيا- غلے کېدنه- قلارۍ- کرارۍ- قرارۍ-
چپوته :(چُ-پو-ته)اسم- مؤنث- ګپېره- تتوړه-
چپ و چور :(چپ- وُ- چور)صفت- وګورئ چپ چور-
چپ و راس :(چپ-وَ-راس)اسم مرکب- ښے او ګس- ښے او کيڼ-
چپوش :(چُ-پوش)اسم صفت- واحد- مذکر- دَ اوږدو لينګيو خاوند- ښانګور- لينګور- لينګيور- اوږد لينګے-
چپ وغړوپ :(چَپ-وَ-غړوپ)اسم صفت- واحد- مذکر- بيخي غلے- بيخي چپ- بالکل خاموش- ګرسره- چپ- غلے غلے- غلے پلے- بيخي خاموش-
چپول :(چُ-پول)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ځنګر- کوږ سترګے- چپک سترګے- چپلغے- چغر- چپے- بېنګاه- (۲)چوړے- پېړے- کږے- هغه څوک چې پښې ئې کوږ وي-
چپول :(چُ-په-وَل)مصدر متعدي- (۱)غلے کول- چوپول- قلارول- قرارول- غلېول-
چپول :(چُ-په-وَل)مصدر متعدي- ښکلول- پپه اخستل- مچه اخستل- کوکي اخستل- مچول- چپي کول- چومل-
چپول :(چُ-په-وَل)مصدر متعدي- بچ کول- اړول- دَ ناڅاپي جنجاله خلاصول- دَ مخې لرې کول- دَ نقصان نه بچ کول-
چپول :(چُ-په-وَل)مصدر متعدي- (۱)چوپل- چړپول- شړپول- په چپارۍ او شړپارۍ سره خوړل يا څښل- (۲)لهٔ شونډو اواز وېستل- (۳)کړول- مات ګډ کول- پلټول- خوړول- ماتول- نچوړي کول-
چپولے :(چُ-په-وَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ چپول-
چپولے :(چُ-په-وَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ چپول-
چپولے :(چُ-په-وَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ چپول-
چپون :(چُ-په-وَن)حاصل مصدر- وګورئ چپول-
چپون :(چُ-په-وَن)حاصل مصدر- وګورئ چپول-
چپون :(چُ-په-وَن)حاصل مصدر- وګورئ چپول-
چپون :(چُ-په-وَن)حاصل مصدر- وګورئ چپول-
چپونکے :(چُ-په-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چپول-
چپونکے :(چُ-په-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چپول-
چپونکے :(چُ-په-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چپول-
چپونکے :(چُ-په-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چپول-
چپونګ :(چُ-په-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چپول-
چپونګ :(چُ-په-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چپول-
چپونګ :(چُ-په-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چپول-
چپونګ :(چُ-په-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چپول-
چپونه :(چُ-په-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ چپول-
چپونه :(چُ-په-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ چپول-
چپونه :(چُ-په-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ چپول-
چپونه :(چُ-په-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ چپول-
چپونے :(چُ-پو-نے)اسم- واحد- مذکر- دَ صابون ټوکرے- دَ صابون ټوټکے- دَ صابون پوچک- دَ صابون خروکے- دَ صابون پوچکه-
چپونے :(چُ-پو-نے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دسترخوان- کونډرے- (۲)وړوکے ټيکرے- وړوکے زړوکے- چپونے- چپوټکے- وړوکے څپونے- دَ قلبي يا روټۍ څپونے- کندور-
چپوهٔ :(چُ-په-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ چپول-
چپوهٔ :(چُ-په-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ چپول-
چپوهٔ :(چُ-په-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ چپول-
چپوهٔ :(چُ-په-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ چپول-
چپه :(چِ-په)اسم- واحد- مؤنث- کوکۍ- ګوکۍ- مچه- مچو- مچکو- مچکه- چومې- بوسه- چپي- ځلګۍ- چپي- چپن- پپه- جمع چپي-
چپه :(چَ-په)اسم- واحد- مؤنث- (۱)حرکت- ټپله- موج- لهر- چپاړ- څپه- غولۍ- ځانګېدهٔ- (۲)عصابي حمله- دَ ناروغۍ حمله- پېريان راتلنه- ميرګي- غوټه- (۳)شېبه- لږ ساعت- (۴)دَ کوټې دَ مورۍ لرګي- چچه- (۵)پوټه- پرمخ- سړولاندې- نسکور- (۶)هغه دَ وني غټه او ګوره څانګه چې غواړيانو پښې تړلے شي او دروزه پرې بوس کولے شي- چاپه منډه- منډو- پړک ځېرے- (۷)هغه امدادي لرګے چې سر ئې دَ بېلچې په شان وي او سينه کښې پرې کشتۍ مخ په وړاندې بوتلے شي- سينګاوړ- تامبېړے- تبک- دَ بېړۍ راشپېل- (۸)دَ غنو دلي- چاپه- دَ غنو پولي- جمع چپې
چپه :(چَ-په)اسم- مؤنث- دَ ګلورو ګټو اندازه- ځپه- ځپق- ځپکه-
چپه :(چَ-په)اسم- مؤنث- (۱)مخالفت- دُشمني- عداوت- (۲)ناراستي- (۳)بدبختي-
چپه پاتا :(چُ-په-پا-تا)اسم- مؤنث- (۱)شرنه- يو پښتوانے دستور چې هلې کښې به خراب سړے يا کورنۍ لهٔ کلي يا علاقې نه شړلے شول-
چپه چپاي :(چُ-په-چُ-پاي)اسم- مؤنث- چپه چپيا- خاموشي- قلارۍ- ارامه ارامي- چوپه چوپتيا- چوپه چپيا- کراره کرارۍ- بالکل خاموشي- بېخي خاموشي- خفګان- زوره خاموشي - خفګان او وېره ترهه خورېدنه-
چپه چپه :(چَ-په-چَ-په)اسم مرکب- هر ځائې- ګټ ګټ-
چپه چپيا :(چُ-په-چُ-پيا)اسم- مؤنث- وګورئ چپه چپاي-
چپه کښ :(چَ-په-کښ)اسم- واحد- مذکر- ماڼکے- ملاح- دَ کشتۍ چلونکے-
چپه لار :(چَ-په-لار)اسم مرکب- واحد- مؤنث- (۱)غلطه لار- وړانه او کږه لار- (۲)دَ وېښتو کږه لار- کږه شيخه-

"ي" (ـي-ـرِ)، ې (ـې-ـوـوِ)، ی (ـيا-ـلي)، ـې (ـتن-ـړي) تفصيل دَ پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

چپی:(چ-پي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ چپه ا-
چپیا:(چپ-یا)اسم- مؤنث- خاموشي- چپه چپاتيْ
چپیت:(چ-پیت)اسم- واحد- مذکر- چپاتے- چپاتی- چپاتې- غوکی-
چپیتول:(چ-پی-تہ-وَل)مصدرِ متعدي- پلنول- خورول- اوارول- هوارول-
چپیتون:(چ-پی-تہ-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ چپیتول-
چپیتونکے:(چ-پی-تہ-وَن-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چپیتول-
چپیتونګ:(چ-پی-تہ-وَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ چپیتول-
چپیتونه:(چ-پی-تہ-وَنہ)حاصلِ مصدر- وګورئ چپیتول-
چپینه:(چ-پی-نہ)اسم- مؤنث- چپن- چپنه-
چپې:(چ-پې)اسم- جمع- مؤنث- (۱)اوتي بوتي- ابدالي- په سختنه تبه کښې اوتي بوتي وئيله- (۲)اولته- سرچپه- اړولي- اړوته-
چپې چپې:(چ-پې-چ-پې)اسم مرکب- په چپو چپو- لړی لړی- لوښان اوښان-
چپېدل:(چ-پې-دَل)مصدرِ لازم- غلے کېدل- قرارېدل- کرارېدل- ارامېدل- چپ کېدل- خاموشه کېدل-
چپېدل:(چ-پې-دَل)مصدرِ لازم- لپوني لپوني خبري کول- کنځل کول- اوتي بوتي وئيل-
چپېدل:(چ-پې-دَل)مصدرِ لازم- (۱)کوږه کېدل- څنګ ته کېدل- يوې وړې ته کېدل- ځان وغږول- د څهٔ مصيبت نه ځان خلاصول-
چپېدل:(چ-پې-دَل)مصدرِ لازم- ماتېدل- خرابېدل- پلټېدل- کږېدل-
چپېدن:(چ-پې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ چپېدل-
چپېدن:(چ-پې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ چپېدل-
چپېدن:(چ-پې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ چپېدل-
چپېدنګ:(چ-پې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ چپېدل-
چپېدنګ:(چ-پې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ چپېدل-
چپېدنګ:(چ-پې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ چپېدل-
چپېدنه:(چ-پې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ چپېدل-
چپېدنه:(چ-پې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ چپېدل-
چپېدنه:(چ-پې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ چپېدل-
چپېدونکے:(چ-پې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چپېدل-
چپېدونکے:(چ-پې-دُون-کے) اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چپېدل-
چپېدونکے:(چ-پې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چپېدل-
چپېدهٔ:(چ-پې-دهٔ)حاصلِ مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ چپېدل-
چپېدهٔ:(چ-پې-دهٔ)حاصلِ مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ چپېدل-
چپېدهٔ:(چ-پې-دهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ چپېدل-
چپېره:(چ-پې-ره)اسم- واحد- مؤنث- کپړه- تتوره-
چپی:(چ-پی)اسم- واحد- مؤنث- ګوک - کوکی پهه- څلکی- مچه-

حله اخستنه- په مخ ګپونه؛ چپونه- چپه- چپی- بوسه- چومی-
چپے:(چ-پے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)چپ سترګے- چغر- چنګر- ګړو سترګے- بېنګا- (۲)کسے- کږ لاسے- (۳)هغه غوانے چې ښکرونه ئې شا ته کاږهٔ وي- (۴)هغه غوانے چې ښکرونه ئې مات وي-
چپے:(چ-پے)اسم- واحد- مذکر- (۱)داغ- خاپ- ټاپے- تاپے- خاپے- چاپے- (۲)نښه نښانه-
چټ:(چَټ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ټيټ- غنهکے- لنډکے- چدرے- ټيټکے- چيټ- (۲)تش- پوچ- خالي- (کارتوس)- (۳)نالائق- نالائقه- (۴)نشوکے- کنځل مار- (۵- اسم صوت)د چټی اواز-
چت:(چَت)اسم- واحد- مذکر- (۱)د کوټې پورتنۍ برخه- د کوټې د غولي مقابل طرف- د چت شوي بام هغه برخه چې د کوټې خوا ته وي- د کوټې هغه برخه چې ديوالونه او فرش ئې پټ کړے وي- کاږ- سقف- (۲)پوړ- منزل-
چت:(چَت)اسم- مؤنث- (۱)بېهوده خبرې (۱)چټی- هوائی-
چتار:(چ-تار)صفت- واحد- مذکر- وران ويجاړ- لتاړ- ګډوډ- خراب-
چت پت:(چَت-پَت)صفت- د پښو لاندې- چخلی- زوړلے- مښلے شوے- پائيمال-
چت پوزے:(چَت-پو-زے)اسم صفت- واحد- مذکر- د چټې پوزې خاوند-
چت چت:(چَت-چَت)اسم مرکب- ناقلاري- ورانکاري- پېر تښتېدنه- پېر ونښېدنه- د چتی په شان بې واره بې واره دانګنه او د چت چت اواز ايستنه- پيره ناقلاري کونه- په يو ځاے نهٔ تيکاوېدنه- پېرې خبرې کونه-
چتر:(چ-تر)اسم- واحد- مذکر- (۱)چترکے- پتکے- (۲)چتے- پوه وړه شړېکې مرغی- (۳)کمزورے- ضعيف- بې قوته- بې طاقته-
چتر:(چ-تر)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)هغه اوښ چې عمر ئې څلورو کالو ته رسېدلے وي- څلور غاښے اوښ- کواټ- (۲)بې وښتو سر- ګنجے- کټے سر- (۳)د زخم نښه- (۴)بلی- څپر- (۵)وړېکوې زلفې چې په تندی را ځلنګی- (۶- صفت)پاک- صفا سوتره- پاکيزه- ولے-
چتر:(چ-تر)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه لويه چترۍ چې د بادشاهانو، سردارانو او سادواتو په سر به نيوے شوه- سيورن- (۲) لويه چترۍ- لوئ سائيوان- لوئ سايه بان- (۳)چجه- جمع چترونه-
چتاي:(چَت-راي)اسم-مؤنث- اونچائي- وچتوالے- بلندي-
چتر چتر:(چ-تر-چ-تر)اسم مرکب- چترۍ نما پيکے- اوربل-
چترګ:(چَت-رګ)اسم- مذکر- د پېړيو يوه لوبه- نسپښتو لوبه- د سپښتو لوبه- دری پلے- دری پولے-
چترکے:(چ-تر-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چتے-
چترکے:(چَت-ر-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- لښتکے- لوپښتکے- لښتنګ- لوپښتنګ- لنډے- ټيټکے- کونډکے- ټېمرکے- ټېمرے- د ورکوټي قد خاوند-

www.pukhto.net

چترنګ:(چَت-رنګ)اسم- دَ سندرو یو وزن یا سُر-

چتره:(چَت-ره)اسم- واحد- مؤنث- څلور کلنې اوښه-

چتره:(چَت-ره)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه شین یا خړ بخن کونتر چې پرې تُور تُور ټاکی وی- (۲)وکوری: چتے-

چتره لار:(چَت-ره-لار)اسم مرکب- مؤنث- ګرکنده لار- معلومه لار- عامه لار- پاکه لار- صافه لار- چتری-

چتری:(چَت-ری)اسم- واحد- مذکر- یو قسم ګل- چتری پک-

چترېل:(چَت-رې-ل)مصدر- پهٔ چارهٔ تکړې کول-

چترې چترې:(چَت-رې-چَت-رې)صفت- مرکب- پکړې پکړې-

چتری:(چَت-ری)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)لهٔ بارانهٔ او دَ نمر لهٔ ګرمی دَ سر دَ بچ کولو دَ پاره ووړکے او لاسکے لرونکے سائبان- (۲)دَ کپړې یوه آله چې پهٔ هوا کښې لهٔ جهاز نه دَ رادکلو او زمکې ته دَ راکوزېدو دَ پاره پکارولے شی- پېراشوټ- (ش- فارسی- هندی)-

چتری:(چَت-ری)اسم صفت- مؤنث- (۱)پاکه لار- (۲)داغی- داغدار- (۳)هغه بنځه چې پهٔ بدن ې دَ زخم داغ وی-

چتړ:(چَ-تړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه ټاپه یا نښه چې پهٔ کپړه لګولے کیږی- (۲)یو قسم لکیرداره کپړه-

چتکے:(چَت-کے)اسم تصغیر- واحد- مذکر- (۱)وړکوټے چت- نیم ورے- ووړکے چت- (۲)لهٔ بارانهٔ او دَ نمر لهٔ ګرمی دَ ټانګې (بګی) محفوظ ساتلو لوئ سائبان- ټاپ-

چتکے:(چَت-کے)اسم- واحد- مذکر- چوندګ- چتر- چترکے- پتکے- چتے- چترو- چندولے- چیړه- چتی-

چتکے چتکے:(چَت-کے-چَت-کے)صفت- مرکب- لږ لږ- کم کم- تکے تکے- خال خال-

چتله:(چَت-له)صفت- (۱)میلے شوے- سُولېدلے- (۲)ووړهٔ شوے- مېده شوے-

چتم:(چهٔ-تم)اسم- واحد- مذکر- مرند- دَ ځتې او دَ لښتو نه جوړ بند- (افغانستان)-

چتنی:(چَت-نی)اسم- مؤنث- وکوری: چکنی-

چتوړې:(چَ-تو-ړې)اسم- دَ اوښانو غټ غټ قدمونه اخستنه یا پهٔ توپونو تلنه-

چتول:(چَ-تم-ول)مصدر متعدی- چیتی کول- چیتول- چیت پیت کول- پیتول- چقول-

چته:(چهٔ-ته)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پام- فکر- سوچ- اند- خیال- قیاس- حواس- (۲)ځان ساتنه- (۳)حد- اندازه- انسانی او اخلاقی حدود- (۴)کبین- دَ کبین ووے- دَ کبین ښیاکه- دَ مچو چک- چک- شکرکنے- ږومبکے- دَ مچو ټمبکه- (۵)رنګ- ګېره- (۶)سرپوښه بازار- سرپټے بازار- پوښلے بازار-

چتی:(چَ-تی)صفت- خوشے- بې کاره- بې ښې-

چتی برو:(چَ-تی-برو)صفت- بې کاره- بې خوده- بیهوده او ناکاره- پارچاو-

چتیز:(چَ-تیز)اسم صفت- واحد- مذکر- منزل لرونکے- پرویز- چتونه چتونه- کڼ چتونه- هغه منزل چې کڼ چتونه لری-

چتیس:(چَ-تیس)اسم صفت- واحد- مذکر- چالاک-

چتی:(چَ-تی)اسم- چتی- وصل- پیوست-

چتی:(چهٔ-تی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)پړی- ټاپړی- موړه- پېه- مچان- دړے- دونکاچه- دَ لرګیو وُچته دونکاچه- مچان یا ټاپړی چې پهٔ کوټه کښې دَ سامان او لوښو لرګیو کېښودو دَ پاره جوړه کړے شوې وی- (۲)پهٔ تړاک کښې دَ پرانېور دَ سیټ نه بره ځائې چې دَ تړاک آلې پکښې ایښوے شی-

چتې:(چهٔ-تې)اسم- مؤنث- څپې-

چتے:(چهٔ-تے)اسم صفت- واحد- مذکر- چیت پیت- پائمال- چخلی-

چتے:(چَ-تے)اسم- واحد- مذکر- چوتے- لنګ- لونګ- چانګے- نېکر- ملدراج-

چتے:(چَ-تے)اسم- واحد- مذکر- دَ برواژې چوړ- لخک- لخه کے- لپکے- چوړ- چول- پونکے-

چتے:(چهٔ-تے)اسم- واحد- مذکر- (۱)یوه وړه خړ رنګې مرغی- چتر- چترکی- چتکے- چیتکے- چورندګ- پیتکے- پتکے- پیک- چترکے- چندروکے- چرندګ- ترورے- تړاک- چندولے- چترو- (۲)ووړکے- بې حقیقته- ناتوانه- ناڅیزه- کمزورے- سپک-

چتے پتے:(چهٔ-تے-پهٔ-تے) اسم صفت- واحد- مذکر- چیتے پیتے-

چټ:(چټ)اسم- واحد- مذکر- ګټ-

چټ:(چَټ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)غریب- ملنګ- خوار- (۲)پیره خرڅېدلے- ګیره کل کړے- (۳)تباه- برباد- نابود- (۴)لونډ- کاسیر- بدعمله- بې کاره- تپ- (۵)تیار- چټک- (۶)خلاص شوے کار- پائې ته رسېدلے کار- (۷)بیخی- بالکل- ګرسره- تمام-

چټ:(چَټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ سپی دَ خوراک لوښے- کودی- کپړ- (۲)هغه لوښے چې دَ لوښو وینځلو پهٔ وخت کښې ناولې اُبهٔ پکښې اچولے شی- (۳)جره سړے- بې ښځې سړے- (۴)مست او ازاد ځوان-

چټاق:(چَ-ټاق)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)شوخ- شیطان- حرامزاده- تېز- بې لحاظه- بې پروا- (۲)چست چالاک-

چټاک:(چَ-ټاک)اسم- واحد- مذکر- (۱)چیټاکی- دَ پاؤ څلورمه برخه- چیټاک- چیټاکے- (۲)کم څیز- لږ شے- لږ څیز-

چټاکی:(چَ-ټا-کی)اسم- مؤنث- وکوری: چټاک-

چټاکے:(چَ-ټا-کے)اسم- مذکر- وکوری: چټاک-

چټان:(چَ-ټان)اسم- واحد- مذکر- هغه کانړے چې اور پرې بلولے شی-

چټاوت:(چهٔ-ټا-وت)اسم- واحد- مذکر- ناڅاپی ګوزار- ناڅاپی وار- ناخبره ګوزار-

www.pukhto.net

چټائي:(چ-ټا-ئي)اسم- واحد- مذکر- (۱)بوريې- ټاټ- پوزکے- انبوړے- پيزے- رووکے پڅول- (۲)پنډل-

چټ پټ:(چټ-پټ)متعلق فعل- (۱)سمدستي- فوراً- سم دلاسه- ژر تر ژره- (۲)بيخي تباه شوے- برباد شوے- لۀ منځه تللے- (۳)تمام شوے- خلاص شوے کار-

چټپټي:(چټ-پټ-ټي)متعلق فعل- (۱)سمدستي- فوراً- سم دلاسه- د واره سره- (۲ صفت)تيار- چمتو- اماده- (۳)هغه څوک چې پۀ هر کار کښې انديښنې او پۀ زړۀ کښې کرل ربيل نۀ کوي- توکلي-

چټ صفا:(چټ-ص-فا)اسم مرکب- (۱)بيخي صفا- صفا سوتره- پاک صاف- صفا چټ- (۲)پاک صاف- بالکل صفا- سده ساده-

چټک:(چ-ټک)اسم صفت- واحد- مذکر- چست- چاق چوبند- چابک پلمت- زغرد- چسپانده- ارمتے- خپوسه- چست چالاک- ګرندے- تېز- متے- ګرندے- وندے-

چټک:(چ-ټک)اسم- واحد- مذکر- دَ لوهارانو يو قسم اوزار- ګټک- ګښتي-

چټک تسمه:(چ-ټک-تس-مه)اسم- مؤنث- کمربند- دَ ملا تړلو تسمه- ملا تړونے- د ملا تړلو پټۍ- پټۍ- د ملا تړلو لوپټه-

چټکتوب:(چ-ټک-توب)اسم- مذکر- چستي- تېزي- چټکتيا- چابکي- جهکي- چالاکي- چابکتوب- چوبکي- چټکوالے-

چټکتيا:(چ-ټک-تيا)اسم- مؤنث- وګورئ چټکتوب-

چټکنے:(چ-ټک-نے)اسم- واحد- مذکر- (۱)چټخنے- بولټ- چينګنے- د وره زنځير- زلفي- موټي- موټے- (۲)د توري موټے يا موټي- زلفي-

چټکوالے:(چ-ټک-وا-لے)اسم- مذکر- وګورئ چټکتوب-

چټکول:(چ-ټ-کو-ول)مصدر متعدي- چالاکول- چابکول- تېزول- چستول- جلتول- چوبکول-

چټکون:(چ-ټ-کو-ون)حاصل مصدر- وګورئ چټکول-

چټکونکے:(چ-ټ-کو-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چټکول-

چټکونګ:(چ-ټ-کو-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چټکول-

چټکونه:(چ-ټ-کو-ونه)حاصل مصدر- وګورئ چټکول-

چټکوۀ:(چ-ټ-کو-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ چټکول-

چټکه:(چټ-که)اسم- مؤنث- د الوان کپړه- مسور ټوکي ټوټه- سره کپړه-

چټکۍ:(چټ-کۍ)اسم- مؤنث- وګورئ تريکلي-

چټکي:(چ-ټک-ي)اسم- مؤنث- وګورئ چټکول-

چټکېدل:(چ-ټ-کې-دل)مصدر لازم- جلتېدل- تندېدل- تېزېدل- چاقېدل- چابکېدل-

چټکېدن:(چ-ټ-کې-دن)حاصل مصدر- وګورئ چټکېدل-

چټکېدنګ:(چ-ټ-کې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چټکېدل-

چټکېدنه:(چ-ټ-کې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ چټکېدل-

چټکېدونکے:(چ-ټ-کې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چټکېدل-

چټکېدۀ:(چ-ټ-کې-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ چټکېدل-

چټکۍ:(چټ-کۍ)اسم- مؤنث- (۱)ګټکه- (۲)چوټي- چونګه- ګړي- بوتکه- چټکه- د هندوانو د سر ورډۀ وېښتۀ- غټه کونځې- غټه کمڅۍ- (۳)سکونړکه- سکونډاره- نوکاره- (۴)چيچنه-

چټکے:(چټ-کے)اسم تصغير- دَ چيټ اسم تصغير- دَ يو ټوکي نوم-

چټکے:(چټ-کے)اسم- مذکر- سکنځلې- کنځلې- کنځلې زېږې- زيارې- سکنځل- بده خله خوځوږه-

چټل:(چ-ټل)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ککړ- ناولے- سخا- ناپاکه- مردار- خيرن- پليت- ګنده- خوسا- سخا(۲)ګټک- (۳)توک- چنګل- د ښلمې- پۀ غنيمه- توک يا پۀ يو ځاى خرڅون- دَ چوک او پرچون ضد- يک مشته- پۀ يو ځاى- ټول-

چټلتوب:(چ-ټل-توب)اسم- مذکر- (۱)ناولتوب- ناپاکي- ناولتيا- خيرن والے- مرداري- ګندګي- ککړوالے- ناپاک توب- خوساتوب- مردار توب- چټلتيا- چټلوالے- پليتي- ګنده توب- چټلي- سخاتوب- (۲)پۀ يو ځاې خرڅون- دَ ښلمې خرڅون- يک مشته- پۀ يو ځاې-

چټلتيا:(چ-ټل-تيا)اسم- مؤنث- وګورئ چټلتوب-

چټلوالے:(چ-ټل-وا-لے)اسم- مذکر- وګورئ چټلتوب-

چټلول:(چ-ټه-له-ول)مصدر متعدي- (۱)ککړول- ناولے کول- خيرنول- مردارول- (۲)دَ ښلمې خرڅول-

چټلون:(چ-ټه-له-ون)حاصل مصدر- وګورئ چټلول-

چټلونکے:(چ-ټه-له-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چټلول-

چټلونګ:(چ-ټه-له-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چټلول-

چټلونه:(چ-ټه-له-ونه)حاصل مصدر- وګورئ چټلول-

چټلوۀ:(چ-ټه-له-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ چټلول-

چټلي:(چ-ټه-لي)اسم- مؤنث- ناپاکي- ناولتيا- مرداري- ګندګي- چټلتوب- ککړي-

چټلېدل:(چ-ټه-لې-دل)مصدر لازم- (۱) ناولے کېدل- ککړېدل- خيرنېدل- ګنده کېدل- مرداريدل- (۲)دَ ښلمې خرڅېدل- پۀ يو ځاې خرڅېدل-

چټلېدن:(چ-ټه-لې-دن)حاصل مصدر- وګورئ چټلېدل-

چټلېدنګ:(چ-ټه-لې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چټلېدل-

چټلېدنه:(چ-ټه-لې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ چټلېدل-

چټلېدونکے:(چ-ټه-لې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چټلېدونکي- مؤنث چټلېدونکې- وګورئ چټلېدل-

چټلېدۀ:(چ-ټه-لې-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ چټلېدل-

چټني:(چټ-ني)اسم- مؤنث- چکني- چکني- چټني- چټني- هغه تروه، ترشه او ترسکونه خوراکه چې د تماټرو، پودينې، شنې دنيا، اورې مرچکي او

www pukhto net

داسي نورو څيزونو نه جوړولے شي۔

چټنى:(چټ۔نى)اسم۔ مؤنث۔ وګورئ چټنى۔

چټو(چ۔ټو)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د لرګى لنګرى۔ بغرى۔ برغى۔

چټو:(چ۔ټو)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ لړو چټالو۔ چټولړو۔ لاړي څټے۔ مصرف۔ لړو څټو۔ لړو۔ فضول خرچه۔ هغه څوک چي بې ځايه او زيات خرچ کوي۔

چټ ويټ:(چټ۔و۔يټ)صفت۔ پوپنا۔ ميرات۔

چټول:(چ۔ټه۔ول)مصدر لازم۔ (۱)تباه کول۔ لۀ ويخه ويستل۔ (۲)سر ته رسول۔ پوره کول۔ چټ کول۔

چټولړو:(چ۔ټو۔له۔ړو)اسم صفت۔ (۱)فضول خرچه۔ فضول خرڅه۔ فضول خرڅ۔ فضول خرچے۔ چټو۔ (۲)کډوړ۔ (۳)تلهاک۔ سخا۔

چټون:(چ۔ټه۔ون)حاصل مصدر۔ وګورئ چټول۔

چټونکے:(چ۔ټه۔ون۔کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ چټول۔

چټونګ:(چ۔ټه۔ونګ)حاصل مصدر۔ وګورئ چټول۔

چټونه:(چ۔ټه۔ونه)حاصل مصدر۔ وګورئ چټول۔

چټوۀ:(چ۔ټه۔وۀ)حاصل مصدر۔ وګورئ چټول۔

چټه:(چ۔ټه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ پېرے۔ دلی۔ ګواته۔ پړه۔ امبار۔ د خښتو مربع۔ پېرې خښتي پۀ يو خاص ډول او ترکيب لګونه۔ د خښتو يا کټو پېرے۔

چټه:(چ۔ټه)اسم۔ مؤنث۔ (۱) سود کونه۔ سود خوري۔ (۲)يو قسم جواري۔

چټه:(چ۔ټه)اسم صفت۔ مؤنث۔ (۱)مسته او بې باکه ښځه۔ (۲)آزاده ښځه۔ رسېدلي او مسته پېغله۔ د پېغلي سره د صفت پۀ توګه راځي۔ لکه چټه پېغله۔

چټه:(چ۔ټه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)د چرسو يا اپيمو وړه پکړه۔ هغه چرس يا اپيم چي ګول ګولی تري جوړي کړے شي۔ (۲)د نلکي يا نچي پۀ ذريعه چرس څښنه۔ (۳)چنډوړ۔ جمع چټي۔

چټي:(چ۔ټي)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ رخصت۔ اجازت۔ (۱)موقوفي۔ (۲)بې غمي۔

چټي:(چ۔ټي)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)فضول۔ اوباش۔ څټے۔ کوټه۔ مضر۔ ضرري۔ ضررناک۔ بې ګټې۔ بې کاره عبث۔ (۲)تروټه۔ تاوان۔ (۳)هيڅ بې هيڅه۔ (۴)اواره ګردي۔ قلاشي۔ آزادي۔ اپله ګردي۔

چټي بړو:(چ۔ټي۔بړو)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ بې معنى۔ چټي۔ څټے او فضول۔ اوباش سړے۔

چټي رسان:(چي۔ټي۔ر۔سان)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ ډاکي۔ ډاکيه۔ ډاک وړونکے راوړونکے۔ پوسته رسان۔ خطونه وړونکے راوړونکے۔

چټيات:(چې۔يات)اسم صفت۔ جمع۔ مذکر۔ فضولي۔ عبث۔ پوچي۔ او بې معنې خبري۔ بې ځايه غړېدنه۔ اپلاتي۔ پرتي۔ لرتاويزي۔ کراري۔ خرافات۔ پوچ ګوني۔ سپکه خله خوځونه۔ واهيات۔ عبثيات۔ بې ګټې۔ بې کاره۔ فضوليات۔ (افغانستان)۔

چټېدل:(چ۔ټي۔دل)مصدر لازم۔ (۱)تباه کېدل۔ برباد‌ېدل۔ (۲)ختمېدل۔ سر ته رسېدل۔ پوره کېدل۔

چټېدن:(چ۔ټي۔دن)حاصل مصدر۔ وګورئ چټېدل۔

چټېدنګ:(چ۔ټي۔دنګ)حاصل مصدر۔ وګورئ چټېدل۔

چټېدنه:(چ۔ټي۔دنه)حاصل مصدر۔ وګورئ چټېدل۔

چټېدونکے:(چ۔ټي۔دون۔کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ چټېدل۔

چټېدۀ:(چ۔ټي۔دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه۔ وګورئ چټېدل۔

چټۍ:(چ۔ټۍ)اسم۔ مؤنث۔ ګلدسته۔ د ګلونو ګېډۍ۔

چټۍ:(چ۔ټۍ)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ د رنګينو ټکر۔ پېروني۔ پوړے۔ زړکے۔ ټکرے۔

چټۍ:(چي۔ټۍ)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ خط۔ رقعه۔ رسيد۔ حواله۔ نسخه۔

چټے:(چ۔ټے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ چناشه۔ چنياشے۔ چمشے۔

چج:(چج)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)د درزوزي، کيانو، تيلو يا بانس نه جوړه شوي د غلې د شپې وهلو آله۔ چاڼ۔ چپونے۔ چچ۔ شپېښے۔ پروېزے۔ (۲)پېښتي۔

چج بواري:(چج۔ب۔وا۔ري)اسم مرکب۔ صفائي۔ پاکونه۔ سوتره کونه۔ صفا کونه۔

چج ويره:(چج۔وي۔ره)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ لويه، کته او پلنه ويره۔

چج ويرے:(چج۔وي۔رے)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ د ستري ويري څښتن۔ د اوږدې کې او پلنې ويرې خاوند۔

چچک:(چ۔چک)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د ټوپک ليندۍ۔ د ټوپک ماشه۔ (۱) د ټوپک کوړ۔ د ټوپک قولنګ۔ د ټوپک کولنګ۔

چچکۍ:(چ۔چ۔کۍ)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)د پستو سره پېښتي۔ اړچے۔ (۲)وړوکي چچه۔

چچکے:(چ۔چمکے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)د نجو او کېږو نه اُبدلې پرده چي دروازو او کړکيو ته زوړندولے شي۔ چک۔ چمک۔ پرده۔ بيټر۔ دروے۔ پرده۔ (۲)هغه وړوکے څېر چي د کوټې د پاسه جوړ شوے وي۔ (۳)لټه۔ دام۔ پرکه۔ تلکه۔ د مرغيو يا د کمانو نيولو جال۔ (۴)وړوکے چچ۔ (۵)د نل پۀ شان نيغ او نری لرګی چي د کوټيو او برنډيو پۀ لاړيو (الهړيو) د چاتي پۀ ځای اچولے شي۔ جمع چچکي۔

چچکر:(چج۔کر)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ چج جوړونکے او خرڅرونکے۔ پروېزے جوړونکے۔ چچ جوړونکے۔

چچون:(چ۔چه۔ون)فعل۔ (۱)د عمومېمانه کونه پاتلنه۔ (۲)اکبر۔ (لونبے)۔

چچواني:(چچ۔وا۔ني)اسم۔ مذکر۔ د غلې داني د صفا کولو کار کسب۔

چچه:(چ۔چه)اسم۔ مؤنث۔ (۱)د چت هغه حصه چي د دېوال د حفاظت دپاره مهر وبستے شوی وي۔ د بام وور بلي۔ (۲)د مار د سر وچت نيونه۔ (۳)د کمانو نيولو د لرګی دام۔ (۴)هغه لرګی چي د مات شوی هډوکي

www.pukhto.net

کېږ چاپېره لګولے شي- (۵)پېتې- (۶)شپول- (۷)غرور-
چچ:(چَچ)اسم- واحد- مذکر- چچ- د کټ ډملو آله- چنډونے- کټ پروېږے- (۲)د مېږرو پېټارګے چې دانې او لوړه پکښې اچولے شي- (۳)تاپ- لويه ټوکرۍ چې ملستۀ او پۀ وړاندې ايښوے شي-
چچا:(چَ-چا)اسم- واحد- مذکر- چاچا- ترۀ- (م- هندی)-
چچاړے:(چَ-چا-ړے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چچاړے-
چچاړے:(چَ-چا-ړے)اسم- واحد- مذکر- دَ اُبو مينځ کښې وُچه زمکه- بېله- جزيره- ټاپو- جمع چچاړی-
چچڼه:(چَ-چڼ-ڼه)اسم- واحد- مؤنث- ترمنه- تومله- تېونه- نسل- نسيار-
چچړ:(چَ-چړ)اسم صفت- واحد- مذکر- بې شرمه او سپين سترګے سړے چې مېنځ بې هېڅه بل پورې خلل نۀلوی- جګړمارو- جګړمار- جګړالو- چېچړ- چچړے-
چچړن:(چچ-ړن)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)چچن- هغه څوک چې سترګې يې هميشه چخې کوی- چخن- خوبن- چوخړ- چوخړن- چخړن- چخن- چيخن- (۲)اېرن- اوبڼن- نرے- چچړوبن- چرچوبن-
چچړوبن:(چَچ-ړو-بن)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)هغه انګولے (پڅکړے) چې شپه پرې تېره شوې وی- (۲)اَبرن- اَبلن- اَبڼن- اَبرن- چېرچوبن- (۳)چخن- چخړن-
چچړے:(چَچ-ړے)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ چچړ-
چچکے:(چَچ-کے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم وړوکے مارغۀ چتے-
چچکر:(چَچ-کر)اسم صفت- واحد- مذکر- چچ جوړونکے- پروېږے خرڅونکے- جمع چچګران-
چچل:(چَ-چل)مصدرِ متعدی- وګورئ چيچل-
چچنه:(چَ-چڼ-نه)اسم- واحد- مؤنث- چرچره- چرچنه- چنچنه- د مرغۍ يو قسم-
چچو:(چَ-چو)اسم- مذکر- (۱)تے-سينه- ممې- (۲)د ماشوم لاس- چاچی-
چچوړه:(چَ-چو-ړه)اسم- واحد- مذکر- يو قسم حشره چې دَ اوبانو توکر پورې نښتې وی- جمع چچوړې- (افغانستان)-
چچوغاړه:(چَ-چو-غا-ړه)اسم- مؤنث- وګورئ چاچوغاړه-
چچوکۍ:(چَ-چو-کۍ)اسم- مؤنث- چاچی- وګورئ چچو-
چچونۍ:(چَ-چو-نۍ)اسم- مؤنث- بوکړی- بکړی-
چچه:(چَ-چه)اسم صوت- (۱)اچې چې- اچه- اچې- ججې- دَ کوډ بزو دَ شړلو آواز-
چچې:(چَ-چې)اسم- مؤنث- (۲)چينډور- چينډری- موکۍ- چيتی- دَ ماشومانو جينکو يو قسم لوبه- (۲)دست- (دَ ماشومانو پۀ ژبه)- (۳)چچه-
چچېدل:(چَ-چې-دل)مصدرِ لازم- ځغېدل-
چچېدن:(چَ-چې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ چچېدل-
چچېدنګ:(چَ-چې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ چچېدل-
چچېدنه:(چَ-چې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ چچېدل-
چچېدونکے:(چَ-چې-دُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چچېدل-
چچېدۀ:(چَ-چې-دۀ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ چچېدل-
چچے:(چَ-چے)اسم تصغير- واحد- مذکر- (دَ وړو پۀ ژبه)لاس- چاچی- چکو-
چچے:(چَ-چے)اسم- واحد- مذکر- غلبۀ چيچونکے- تهرژن-
چخ:(چَخ)اسم صوت- (۱)دَ سپی دَ شړلو آواز- چخې- (۲)دَ تحقير کلمه-
چخ:(چَخ)صفت- مذکر- ورشوتے- چوخ- بنځ-
چخا:(چَ-خا)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ ماشومانو پۀ ژبه)سپے- (۲)چخې- کورې- چخه-
چخابنکے:(چَ-خابڼ-کے)اسم- مذکر- ژامه- دَ ژامې آخری برخه- زامه- زومه- ژامه- جمع چخابنکی-
چخپيت:(چَخ-پيت)صفت- پانمال- کونمال- چپليت- چپړيت- چيت پيت- چپړيخ- چخپړيت- چپليخ- مرلے شوے- پښو لاندې شوے-
چخپيتوالے:(چَخ-پيت-وا-لے)اسم- مذکر- چيت پيت والے- چپليت والے- چپړيخوالے-
چخپيتول:(چَخ-پی-تہ-ول)مصدرِ متعدی- چپړيتول- چپړيخول- چيتول- چتول- پانمالول- پښو لاندې کول- چقړی کول- چت پټول- چپليتول- چپليخول- پلټول-
چخپيتون:(چَخ-پی-تہ-ون)حاصل مصدر- وګورئ چخپيتول-
چخپيتونکے:(چَخ-پی-تہ-وُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چخپيتول-
چخپيتونګ:(چَخ-پی-تہ-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ چخپيتول-
چخپيتونه:(چَخ-پی-تہ-وَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ چخپيتول-
چخپيتوۀ:(چَخ-پی-تہ-وۀ)حاصلِ مصدر- وګورئ چخپيتول-
چخپيتېدل:(چَخ-پی-تې-دل)مصدرِ لازم- چيت پيتېدل- چپړيخېدل- چتېدل- چقړېدل- چيتېدل- چپليخېدل- پلټېدل-
چخپيتېدن:(چَخ-پی-تې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ چخپيتېدل-
چخپيتېدنګ:(چَخ-پی-تې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ چخپيتېدل-
چخپيتېدنه:(چَخ-پی-تې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ چخپيتېدل-
چخپيتېدونکے:(چَخ-پی-تې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چخپيتېدل-
چخپيتېدۀ:(چَخ-پی-تې-دۀ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ چخپيتېدل-
چختاړ:(چَخ-تاړ)صفت- واحد- مذکر- چختاړ- چيت پيت- دَ پښو لاندې شوے- لتاړ- خړميچ- چيت شوے- چخپړيت- خړپيچ- پانمال- چخنې شوے- دَ پښو لاندې مبتلے- رسوبلے-
چختاړول:(چَخ-تا-ړول)مصدرِ متعدی- مبتل- لتاړول- پائيمالول- دَ پښو لاندې کول- چيتول- چپړيتول- چخنې کول- خجل کول- مبتل- خړميچول-

www.pukhto.net

چخېریتول- چختاول- رسویل-

چختاړون:(چخ-تا-ړمون)حاصلِ مصدر- وګورئ چختاړول-

چختاړونکے:(چخ-تا-ړموون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چختاړول-

چختاړونګ:(چخ-تا-ړمونګ)حاصل مصدر- وګورئ چختاړول-

چختاړونه:(چخ-تا-ړه-وڼه)حاصل مصدر- وګورئ چختاړول-

چختاړوۀ:(چخ-تا-ړموۀ)حاصلِ مصدر- وګورئ چختاړول-

چختاړېدل:(چخ-تا-ړي-دل)مصدرِ لازم- چیتېدل- دُ پښو لاندې کېدل-چخنی کېدل- چختاڼېدل- چخپېتېدل- خړپیچېدل- خرمېچېدل- دُ پښو لاندې کېدل- رسوېل کېدل-

چختاړېدن:(چخ-تا-ړي-دن)حاصل مصدر- وګورئ چختاړېدل-

چختاړېدنګ:(چخ-تا-ړي-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ چختاړېدل-

چختاړېدنه:(چخ-تا-ړي-دڼه)حاصل مصدر- وګورئ چختاړېدل-

چختاړېدونکے:(چخ-تا-ړي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چختاړېدل-

چختاړېدۀ:(چخ-تا-ړي-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ چختاړېدل-

چختاړ:(چخ-تاړ)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ چختاړ-

چختک:(چخ-تک)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)کومی کن- هغه سړے چې د کومی یا کاریز په تل کښې کار کوي- (۲)دوه ښاخے میکوے- دوه ښاخے موږے-

چخته:(چخ-ته)اسم- واحد- مؤنث- پتک- هغه نرم او پوست لرګے چې ماشومان پرې وړې وړې ګیډکې ولي-

چخ چخے:(چخ-چ-خے)اسم- واحد- مذکر- چخچے- (۱)هغه نرے لرګے چې کوږ پرې کولے شي- (۲)هغه پکے چې ساګ پرې کولے شي-

چخچے:(چخ-چے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چخ چخے-

چخړ:(چ-خړ)اسم- واحد- مذکر- چکړ- ختې- چقړی- چکړی- چیکړی-

چخړسه:(چخ-ړسه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د باران له کبله د زمکې ختې کېدنه- ختې- چقړی - چکړې- چیکړې- چکړ- (۲)ملغوبه- چقړوبه- کړوږ شوے خیر- (۳)خبېښنه-

چخړک:(چخ-ړک)اسم صفت- واحد- مذکر- خوبلن- هغه څوک چې سترګې یې خړېنې وي- چیخن- چخړن- چخن- پخړن-

چخړن:(چخ-ړن)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ چخړک-

چخړوبن:(چخ-ړو-بن)صفت- نرے- ابلن- رقیق- ابړن- لشوبه- ابزن- ابژن-

چخړوبنتوب:(چخ-ړو-بن-توب)اسم- مذکر- چخړوبنوالے- ابلنوالے- ابړنوالے- چخړوبنتیا-

چخړوبنتیا:(چخ-ړو-بن-تیا)اسم- مؤنث- وګورئ چخړوبنتوب-

چخړوبنوالے:(چخ-ړو-بن-والے)اسم- مذکر- وګورئ چخړوبنتوب-

چخړوبنول:(چخ-ړو-بڼه-مول)مصدرِ متعدي- (۱)ابژنول- نرمول- ابلنول- چخړوبن کول- (۲)چخړبه کول-

چخړوبنون:(چخ-ړو-بڼه-مون)حاصل مصدر- وګورئ چخړوبنول-

چخړوبنونکے:(چخ-ړو-بڼه-موون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چخړوسول-

چخړوبنونګ:(چخ-ړو-بڼه-مونګ)حاصل مصدر- وګورئ چخړوبنول-

چخړوبنونه:(چخ-ړو-بڼه-موڼه)حاصل مصدر- وګورئ چخړوبنول-

چخړبنوۀ:(چخ-ړو-بڼه-موۀ)حاصل مصدر- وګورئ چخړوبنول-

چخړوبنېدل:(چخ-ړو-بڼې-دل)مصدرِ لازم- (۱)نرمېدل- چخړوبن کېدل- ابړېدل- (۲)چخړبه کېدل- اتوب کېدل-

چخړوبنېدن:(چخ-ړو-بڼې-دن)حاصل مصدر- وګورئ چخړوبنېدل-

چخړوبنېدنګ:(چخ-ړو-بڼې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ چخړوبنېدل-

چخړوبنېدنه:(چخ-ړو-بڼې-دڼه)حاصل مصدر- وګورئ چخړوبنېدل-

چخړوبنېدونکے:(چخ-ړو-بڼې-دون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چخړوبنېدل-

چخړوبنېدۀ:(چخ-ړو-بڼې-دۀ)حاصلِ مصدر او د ماضي استمراری دُ واحد غائب صیغه- وګورئ چخړوبنېدل-

چخړه:(چخ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- چخبه- چیخے- چخه- چخړے- چوخړے- د سترګې یا د پوزې خیرے- جمع چخړې-

چخړې:(چخ-ړې)اسم- جمع- مؤنث- وګورئ چخړه-

چخکے:(چخ-کے)اسم- واحد- مذکر- وړوکے چمچے چې د ډېرو خوړو له کبله د ماشومانو د کولمې په سر(مقعد) کښې پېدا کېږي- کیخے- کوخک- ککڅکے-

چخل:(چ-خل)مصدرِ متعدي- منډل- نوښتل- سوخول- چوخول- ټمبل- زنل-

چخله:(چ-خڅه-له)اسم- واحد- مؤنث- د چوخولو آله- چوکه- پیږی- چخوټے- چکه- مچک-

چخلے:(چخ-خڅه-لے)اسم معمول- واحد- مذکر- چوخېدلے- ننوتے- چوخ شوے- چوخولے شوے- چخ شوے-

چخ مخ:(چخ-مخ)اسم- واحد- مذکر- (۱) پترکله ټوپک- (۲)چقماق- چخمخے- ټکری-

چخمخے:(چخ-مخے)اسم- واحد- مذکر- د ټوپک یو قسم- چخ مخ-

چخمور:(چخ-مور)اسم- واحد- مذکر- کاڼے- چپک- (م- فارسی)-

چخن:(چڅه-خن)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)چوخړ- چوخړن- زړلن- چیخن- چخن سترګے- خچن- ابلن- هغه څوک چې سترګې یې چخې کوي- (۲)چټل- ناولے- (۳)تت- (۴)پصانی-

چخندے:(چ-خن-دے)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه تېره لرګے چې کاغذې وغیره پرې وېستلے شي- کرندے- (۲)ټمن سیے-

چخنه:(چ-خڅه-نه)حاصل مصدر- چخونه- چوخونه- سوخونه- منډنه- ننه ستنه- چوکه کونه-

www.pukhto.net

چخنه ګته (چ-خهٔ-نه-ګو-ته)اسم- واحد- مؤنث- د لاس وړه ګته- کچه ګته-
چخنې خرى (چ-خهٔ-نې-خ-بهٔ-رى)اسم- مڼيوالې خرى- بدى خرى-
چخنه (چخ-نه)اسم- مؤنث- وګورئ: چخړه-
چخنى (چخ-نى)اسم صفت- پانمال- مېلے- کوښمال-
چخول (چهٔ-خه-ول)مصدر متعدى- (۱)سوخول- چوکه کول- ننه ايستل- (۲)لمسول- لمڅول- پارول- تحريکول- (۳)ښخول- لکول-
چخولے (چهٔ-خه-وهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ: چخول-
چخون (چهٔ-خه-ون)حاصل مصدر- وګورئ: چخول-
چخونکے (چهٔ-خه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چخونکى- مؤنث چخونکې- وګورئ: چخول-
چخونګ (چهٔ-خه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ: چخول-
چخونه (چهٔ-خه-وهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ: چخول-
چخونے (چ-خو-نے)اسم- چکه- چخله-
چخوبيا (چې-خون-بيا)صفت- (۱)شوربدلے- ورووست- امبرګے- امبورګے- اسارے- زور- (۲)چپاسن- چيښن- چپاسى- باسى خوراک-
چخوهٔ (چهٔ-خه-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ: چخول-
چخه (چهٔ-خه)حرف جار- وګورئ: ګخه-
چخه (چهٔ خه)اسم- مؤنث- پخه- لږ څيز- لږ مقدار-
چخه (چهٔ-خه)اسم- (۱)چخ- (۲)چخړى-
چخه (چهٔ-خه)اسم- واحد- مذکر- ښخه- زخه- هغه نور رنګ لرونکې وړه دانه چې سر ئې ارى ارى وى او د وجود په ښپلو ښپلو برخو راخيژى-
چخې (چهٔ-خې)اسم- جمع- مؤنث- (۱)دَ سترګو ګند- دَ پوزې ګند- (۲- اسم صوت)دَ سپى دَ شړلو آواز- (۳)لرې شه- ورک شه-
چخېدل (چهٔ-خې-دل)مصدر لازم- (۱)سوخېدل- منڅل کېدل- ننه کېدل- منهلے کېدل- چوخېدل- ننه کېدل- (۲)تحريکېدل- پارېدل- (۳)لګېدل- ښخېدل-
چخېدلے (چهٔ-خې-دهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- (۱)سوخېدلے- منهلے شوے- چوخېدلے- (۲)لګ شوے- ښخ شوے- (۳)لمڅول شوے- تحريک شوے- لمسول شوے-
چخېدن (چهٔ-خې-دن)حاصل مصدر- وګورئ: چخېدل-
چخېدنګ (چهٔ-خې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ: چخېدل-
چخېدنه (چهٔ-خې-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ: چخېدل-
چخېدونکے (چهٔ-خې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چخېدونکى- مؤنث چخېدونکې- وګورئ: چخېدل-
چخېدونے (چهٔ-خې-دو-نے)اسم- واحد- مذکر- د ټومبلو آله- سوځېدونے-
چخېده (چهٔ-خې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضى استمرارى دَ واحد غائب صيغه- وګورئ: چخېدل-
چخے (چهٔ-خے)اسم- واحد- مذکر- وړوکے ماشے-

چخے (چهٔ-خے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)هغه څوک چې په سترګو ګنې ئې چخې وى- چخن- (۲)چړک-
چدام (چ-دام)اسم- (۱)لږ کوټے- لهٔ کوټے- لږ څيز- لږ شے- (۲)دَ يوې تولې اتمه برخه- (۳)يو قسم زړهٔ سکه- برهم-
چدانى (چ-دا-نى)اسم- واحد- مذکر- د چايو لوښے-
چدن (چ-دن)اسم- واحد- مذکر- چودن- چاړدنه-
چدے (چې-دے)تکيهٔ کلام- دَ "چې دے" مخفف-
چړل (چهٔ-ړل)اسم- واحد- مذکر- دَ خوراک نه پاک کنهول- دَ خوراک نه پاک حاورين لوښے-
چړوسکے (چهٔ-ړوس-کے)اسم- واحد- مذکر- دَ هندوانې يا خټکى پوستکے- چړوکے-
چړوکے (چ-ړو-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ: چړوسکے-
چړول (چ-ړول)اسم- واحد- مذکر- چټو- ونګ- باټکيمالے- لنګرى- (ادير)-
چړ (چړ)اسم صوت- (۱)دَ چرچنې يا مرغى آواز- (۲)دَ کړپې دَ شلولو آواز- (۳)دَ شېلک آواز- (۴)مرمر- خرهٔ ته دَ جنسى غريزې راپاروللو دَ پاره ورکونکے آواز- پاروونه- لمسونه- تحريکونه-
چړ (چړ)اسم- مذکر- (۱)جار- کار- (۲)سېلابى خاوره او خړه- (۳)دَ صحا ابو لښتے او نالى- دَ سېلاب لے- ناوه- پرناله- ترى- تره-
چړ (چړ)حرف- کله نه کله- يو ځل- چړې چړې- چړته- چړې- کله کله- يو ځل بيا- چړې-
چړ (چړ)اسم- مذکر- لوټ- چور- تالان- وهٔتونه- ورنه- تښتونه-
چړ (چړ)اسم- مذکر- (۱)ګڅى- څړ- څړونده- څرنډ- دَ مال څرېدنه- (۲)هغه رسۍ چې سرکش څاروے پرى تړلے کيږى- (۳)خوشحالى-
چړ (چړ)اسم- مذکر- چارلار- طور طريقه- طرز- عادت-
چړاپړ (چړا-پړ)اسم صوت- دَ مارغانو آوازونه-
چړاتى (چړا-تى)اسم- مؤنث- د ټوپک هغه چړې چې دَ کانو نه جوړې شوې وى-
چړار (چ-رار)اسم صوت- (۱)دَ مرغيو لوچړچيو اوازونه- (۲)دَ کړپې دَ شلولو آواز- (۳)دَ شپېلۍ اواز-
چړاسپه (چ-راس-په)اسم- مؤنث- (۱)دَ کور بزو دَ وړى نه جوړ شوے پړے- (۲)په اوبن دَ بار تړلو مخصوصه طريقه-
چړاغ (چ-راغ)اسم- مؤنث- ډيوه- څراغ- دَ رڼا کولو آله- (فارسى)-
چړاغان (چړا-غان)اسم- مذکر- دَ جشن يا خوشحالۍ په شپه ډيرې زياتې ډيوې يا دَ بجلۍ بلبونه دَ ښائست زياتولو دَ پاره لګونه-
چړاغک (چړا-غک)اسم تصغير- مذکر- څراغکے- چراغکوټے- وړوکې ډيوه- وړوکے چړاغ- چړاغکے-
چړاګاه (چړا-ګاه)اسم- مؤنث- څرځاے- څرن ځاے- ورشو- دَ ګډو بزو او غوا ميښو دَ څرند ځاے- د څرند ځاے-

رمز (چ-مهٔ-ړه) ووركي (شل) پيس (مو-كا-ره) رمز (ک-ساب)، حرم (شکوپ)، ۃ (و ړه) ۃ (پو-مې-دهٔ)

www.pukhto.net

چراګر:(چ-را-ګر)اسم- مذکر- ځرندوکے- ګرېدونکے-

چراوے:(چ-را-وے)اسمِ صفت- واحد- مذکر- (۱)مقلد- تقلید کونکے- پسې کونکے- چړاوے- پېروي کونکے- پېښمار- (۲)د ستړګې کاتے-

چرائی:(چ-را-ئي)اسم- مؤنث- (۱)د لرګیو د څیرلو او ماتولو مزدوري- (۲)د لرګیو د ماتولو کار-

چرب:(چرب)اسمِ صفت- واحد- مذکر- (۱)غوړ- هغه څوک چې په عیش او عشرت کښې ژوند تېروي- (۲)څرب- غټ- په وجود دروند-

چرسانګ:(چر-بانګ)اسم- واحد- مذکر- (۱) د چرګ د بانګ وخت- د سحر وخت- د پېشمنې وخت- د شپې آخري پهر- د شپې اخری برخه- چربانګے- (۲)بر ویونکے- خبرلوځ- سخن ساز- فضول او عبث خبری کونکے-

چربانګے:(چر-بانګ-ګے)اسم- واحد- مذکر- پېشمنے- پشلمے- پېشلمے- پشمنے- پېرشمنے- پشمے- چربانګ-

چربخے:(چر-بخے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم بوټے-

چرب دست:(چرب-دست)اسمِ صفت- واحد- مذکر- ماهر- تک لاسے-

چرب زبان:(چرب-زو-بان)اسمِ صفت- واحد- مذکر- ژبه ور- غوړژبے-

چرب زباني:(چرب-زو-با-ني)اسم- مؤنث- غوړژبتیا- چالاکي-

چربښی:(چر-بښی)اسم- مؤنث- یو قسم میوه-

چربل:(چر-بل)اسم- واحد- مذکر- (۱)پراوېز- (۲)پیوند- (۲)د اُس جلب چې د سپهسو نه جوړولے کیږي-

چربور:(چر-بور)اسم- چیري بیري- غشه- توَل- له یوه سره- چوربور-

چربوړے:(چر-بو-ړے)اسم- واحد- مذکر- د غوښې بوټی- بوټی- بوټی غوښه- پسته- پسته غوښه- شله غوښه- د غوښې سرخی- د غوښې چم-

چربه:(چر-به)اسم- مؤنث- خاکه- مسوده- نقل-

چربي:(چر-بي)اسم- مؤنث- یوه سپینه ماده چې وجود کښې د ویښې او غوړو مادو په وجه جوړیږي- وازده- وارګه- شله- غوړوالے-

چرپا:(چر-پا)اسمِ صوت- څرپ- چرپ- شرپ شرپ- د اُبو د پرېوتو آواز- د اُبو د تونندو آواز- چرپا-

چرت:(چرت)اسم- (۱)خیال- فکر- تصور- خوش طبعي- مزاج- طبیعت- ښه مود- مزه- پرکالی- پرمېخي- د خوب معمولي جوتهه- (۲)د ستړګو رندېدنه- (۲)اټکل-

چرت:(چرت)اسم صوت- (۱) د توکاټو توکلو آواز- چرتا- چرت- (۲)د اُبو داره- چرله-

چرتا:(چر-تا)اسم صوت- د چرت چرت آواز- د توکاټو توکلو آواز- د لاړو د توکلو آواز-

چرتکے:(چر-ت-کے)اسمِ صفت- واحد- مذکر- (۱)بې ثباته- موتني- (۲)بې ځایه خیرکې وهونکے- تلولے- اورېدوے-

چرتکے:(چر-ت-کے)اسم- واحد- مذکر- اوپاش- شړوبے- اُبه شندونکے-

چرته:(چر-ته)اسم- مؤنث- څېره- بڼه- شکل-

چرته:(چر-ته)کلمهٔ استفهام- چرته- چېرې- کوم ځایَ ته- چرې- استفهامي مکاني ضمیر-

چرته چرته:(چر-ته-چر-ته)اسمِ مرکب- کله کله- یو نیم ځایَ- کله خو- کله نه کله-

چرتي:(چر-تي)صفت- واحد مذکر- خوش طبع- فکري- په چرت کښې- اندېښمن- په خیال کښې- په فکر کښې ډوب-

چرتېدل:(چر-تې-دل)فعل/اسم صوت- (۱)چرت چرت کول- (۲)چرپدل- چرچر کول- (۲)ځاځکے ځاځکے یا ګوټ ګوټ اُبه راغرځېدل-

چرتېدن:(چر-تې-دن)حاصل مصدر- وګورئ چرتېدل-

چرتېدنګ:(چر-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چرتېدل-

چرتېدونکے:(چر-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چرتېدونکی- مؤنث چرتېدونکې- وګورئ چرتېدل-

چرتېده:(چر-تې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ چرتېدل-

چرتے:(چر-تے)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه څوک چې زیاتې او بې ځایه خبرې کوي- چرچرلے- ګربوے- چرچرے- چرند- چرندک- قرتن-

چرټ:(چرټ)اسم- واحد- مذکر- یو غټ سګرټ چې د کاغذ په ځایَ د تماکو په پاڼه کښې نغښتے وي- سګار- بیړي-

چرته:(چر-ته)اسم- واحد- مؤنث- یوه وړه شان مرغابۍ- ایلي- هیلي- مرغنې- مرغاطه- سائنسي نوم ANA PLATYRHYNCHOS-

چرچا:(چر-چا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)آوازه- شهرت- مشهورتیا- نیک نامي- نوم- چرچه- انوا- (۲)عیش عشرت- مزه-

چرچاخه:(چر-چا-خه)اسم- واحد- مؤنث- ښانګي- مکو- چارشاخه-

چرچاړ:(چر-چاړ)اسم- غم- خواشیني- خفګان-

چرچر:(چر-چر)اسمِ صوت- چرار- چر چر کونه- چرېدنه- د چرچنو یا نورو وړو مرغیو آوازونه- (۲)بې ځایه تړېدنه- پېر وېنېدنه- ګړبېدنه- چتی غږېدنه- فضول خبرې-

چرچر:(چر-چر)کلمهٔ مذکر- اوښ ته د اُبو ورکولو په وخت دا کلمه وئیلے شي- څرڅر-

چرچرانګے:(چر-چران-ګے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ تاز-

چرچرلے:(چر-چر-لے)اسمِ صفت- واحد- مذکر- بې ځایه او عبث خبرې کونکے- ګړبوے- چرچرے- قرتن-

چرچرلے:(چر-چر-لے)اسم - واحد- مذکر- کرړے- کربړے- کیرړے- چوړ چوړے- چماچار- جراسک-

چرچره:(چر-چره)اسم- واحد- مؤنث- چرچري- شرشري- شتی- شورشوري- شوږشوتی- تړتکه- سرسري- ځرځرانګه- چمچري- یوه اتشبازي چې د شب قدر او وادهٔ ښادي په موقع کولے شي-

www.pukhto.net

چرچري:(چر-چ-ري)اسم صوت- شور- د چرچر آواز-
چرچرى:(چر-چ-رى)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ چرچره-
چرچرے:(چر-چ-رے)اسم صفت- واحد- مذکر- چرند- کړتن- قرتن- کرتو- عبث او مضول خبري کونکے- فضول غږېدونکے- چرچرک-
چرچله:(چر-چ-له)اسم- بهير- تګ- حرکت- چل چلاؤ-
چرچڼ:(چر-چڼ)اسم- واحد- مذکر- (۱)چرچڼک- چڼچڼک- چڼ چڼ- (۲)د خالي ورځ- (۳)اول سبق-
چرچه انيمى:(چر-چه-نه-افى-مى)اسم صفت- واحد- مذکر- پوخ املي- زوړ املي- زيات افيم خوړونکے- هغه څوک چي د ډېر وخت راسي افيم خوري-
چرچڼک:(چر-چ-ڼک)اسم- واحد- مذکر- چرچڼ- (۱)چڼچڼک- چڼ چڼ- (۲)د خالي ورځ- (۳)اول سبق-
چرچنه:(چر-چ-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱) يو وړه خوړنکي مرغى چي د چڼ چڼ آواز کوی- چرچره- کوټوالے- چونچنه- چوغکه- چنچنه-
چرچنے:(چر-چ-نے)اسم- واحد- مذکر- ککرو- کونکرو-
چرچوبى:(چر-چو-بى)اسم- واحد- مؤنث- د لمبلو ځاې- غسل خانه- چرچوبى- چمچوس- چمچوبى- تشناب-
چرچور:(چر-چور)اسم صفت- واحد- مذکر -(۱)ونوې ونوې- ټوټې ټوټې- حصه حصه-
چرچور:(چر-چور)اسم- (۱)شور- زوږ- غالمال- (۲)تباه- برباد- لوټ تالان- چور-
چرچورکى:(چر-چو-ر-کى)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کرړے- کيږے- چرچورى- خرړے- چورچورکه- يو قسم حشره چي د شپې د چر چر آواز کوی- (۲)شرشرى- چرچري-
چرچورى:(چر-چو-رى) اسم- واحد- مؤنث- وګورئ چرچورکى-
چرچولى:(چر-چو-لى)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ چرچوبى-
چرچونګى:(چر-چون-ګى)اسم- واحد- مونث- يو قسم مرغى-
چرچه:(چر-چه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ چرچا-
چرچه:(چر-چه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ چرچه-
چرچيبى:(چر-چي-بى)اسم- واحد- مؤنث- چرچوبى- چرچوبى- چارچوبى- غسل خانه-
چرخ:(چرخ)اسم- واحد- مذکر- (۱)آسمان- فلک- (۲) دور- زمانه- (۳)ګردش- څرخ-
چرخ:(چرخ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ څرخ-
چرخل:(چر-خل)اسم- واحد- مذکر- (۱)چارخول- (۲)د پټکي شمله- د لونګي شمله-
چرخوړے:(چر-خو-ړے)اسم- واحد- مذکر- ځخوړے- سخوړے- جمع چرخوړى-
چرخول:(چر-خول)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چارخول-
چرخول:(چر-خه-ول)مصدر متعدی- تاوول-
چرخولک:(چر-خو-لک)اسم- واحد- مذکر- چارخول- چارخوله- چارخولک- قرقره- خونړے- د چرګ د سر خونړے-
چرخولى:(چر-خو-لى)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ چارخول-
چرخولے:(چر-خو-لے)اسم- واحد- مذکر- د سرپوښ موټے- د ديګ د سرپوښ لاسکے-
چرخه:(چر-خه)اسم- واحد- مؤنث- د سپنسو غښتلو آله- څرخه-
چرخى:(چر-خى)اسم- واحد- مؤنث- څرخه- چرخه-
چرخيره:(چر-خي-ره)اسم- واحد- مؤنث- چوختے- تورتوړے- چوستے- خوښکے- کشکو- ګخکوړے- چشکوړے- چوشکے- ګوښکوړے- جمع چرخيرى-
چرخيله:(چر-خي-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ چرخيلى-
چرخيلى:(چر-خي-لى)اسم- واحد- مؤنث- چرخيله- چارخول- چارخوله- چارخولک- قرقره- جغه- خونړے- ځنړے-
چرخى:(چر-خى)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د سپنسو غښتلو آله- څرخه- چرخه- (۲)هغه لرګے چي د کوډی تار تري تاوولے شي- (۳)د بوڼ غړلو آله- ګرځنے- چابنى- څرخ- (۴)د کومى نه د اُبو راايستلو آله- څرخه- چرخه- (۵)د ضرب نښه (×)-
چرده:(چر-ده)اسم- (۱)د څېرى رنګ- مزاج- (۲)چرته- (م- فارسي)-
چرروت:(چر-روت)اسم صوت- د ميرز اواز- د ورپېرز آواز- د بټېر آواز- د کرک آواز- (۲)د کمزوری- ضعيف او بې زړه سړی خبري- چرروټ-
چرروکے:(چر-رو-کے)اسم- واحد- مذکر- سپېرخکے- کيليک- پېزواتے- کلي ککه- د سسهار(کوندۍ)د تير هغه لرګے چي د سربانوی پۀ واسطه جغ او تير سره کلکوی-
چرړه:(چر-ړه)اسم- واحد- مونث- چيرړه- ريبه- چيرړى- رنجه- رته- ريناړه- پړانګه- تړانګه- ريښکى- رښکى- تړی- اوږده چيرړه- لته- څيره- زړه رنجه-
چرړے:(چر-ړے)اسم- واحد- مذکر- څوړه- چوړره- ګوړے- يو څړنګي مرغى چي لکۍ ئې اوږده وی-
چرز:(چ-رز)اسم- واحد- مذکر- د باز پۀ شان يو ښکاری مارغۀ- ساړے- ښارے-
چرس:(چرس)اسم- مذکر- حشيش- د چاې شړو بنګو کردہ- هغه کرده چي پۀ چيلم يا سګرټ کښي څښلے شي-
چرسه:(چر-سه)اسم- واحد- مؤنث- بورقه- بوقه- بوکه- پولچه- لوټه- ترنګڼ- د خرمن يا بل څۀ کوټى نه جوړه هغه ژوره شان اوږده بوقه چي د کومى نه پرې اُبۀ راوکښلے شي- هغه ترنګڼ چي د کومى نه پرې خاوره يا شګه راوکښلے شي-

چرسی:(چَر-سي)اسمِ صفت- واحد- مذکر- (۱)دَ چرسو عملی- چرس څښونکے- هغه سړے چې چرس څښی- پهٔ چرسو اموخته- (۲)کاواک-

چرغ:(چَرغ)اسم- واحد- مذکر- (۱) د تېپوس پهٔ شان يو سپين رنګے ښکاری مارغهٔ- ملاماتے- چرخ- چرګ- (۲)چرګ-

چرغالے:(چر-غا-لے)اسم- مرغانچه- چرګ غالے- چرګ خالے-

چرغړه:(چر-غ-ړه)اسم- مؤنث- پهٔ زوره خندا- پهٔ کټ کټ خندا- پهٔ کړس کړس خندا- پهٔ خټ مټ خندا- پهٔ قا قا خندا- پهٔ تېزه خندا- پهٔ بړق بړق خندا- قهقهه-

چرغزه:(چر-غ-زه)اسم- مؤنث- غښې- غرې- يو قسم توره مرغۍ چې مېنوکه يې سپينه او پېښې يې نرۍ وی او اکثر پهٔ اُبو کښې ګرځی-

چرغزی:(چر-غ-زي)اسم- مؤنث- د زاغاوی د خاندان يوه مرغۍ- چرغزے- کشکل-

چرغزے:(چر-غ-زے)اسم- مذکر- وګوری چرغزی-

چرغږ:(چَر-غږ)اسم- چرګ غږ- د چرګ دَ بانګ وخت- دَ سحر نه مخکښې وخت- چرګ بانګ مال-

چرغنک:(چَر-غه-نک)اسم- واحد- مذکر- چمغړک- دَ مږی دَ مړی غټه- چنغړک- چينغړک-

چرغو:(چَر-غو)اسم- مذکر- يو قسم بوټے- شين ګلے-

چرغيلے:(چَر-غي-لے)اسم- واحد- مذکر- چرغ- باز- شاهين-

چرک:(چَرک)اسم- (۱)خيرے- سخاوالے- ګند- چټلی- ناپاکی- چخه- خيرنتوب- (۲)دَ اُبو دارو- چرت- هغه اُبهٔ چې دَ خلې نه د چرت پهٔ شکل وبستلے کيږی- (۲)هغه څهٔ چې سر يې تېره وی- څوځه- خرېزه- (۴)برېښ- څړيکه- چړيکه- رښکه- دَ درد ګړيکه- (۵)زړې- نو- دَ داني مُرداري اُبهٔ-

چرک:(چرک)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)خيرن- چټل- ناپاک- مخاء- ګنده- (۲)جاسوس-

چرکلے:(چر-کهٔ-لے)اسم- مذکر- يو قسم کيا-

چرکين:(چَر-کين)اسم صفت- واحد- مذکر- ګنده- پليت- ناپاک- خيرن-

چرکېدل:(چر-کې-دل)مصدرِ لازم- بدن ميری ميری کېدل- بدن ستني ستني کېدل-

چرکېدن:(چر-کې-دَن)حاصلِ مصدر- وګوری چرکېدل-

چرکېدنګ:(چَر-کې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګوری چرکېدل-

چرکېدنه:(چَر-کې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګوری چرکېدل-

چرکېدونکے:(چَر-کې-دُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع چرکېدونکی- مؤنث چرکېدونکې- وګوری چرکېدل-

چرکېدهٔ:(چر-کې-دهٔ)حاصلِ مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګوری چرکېدل-

چرګ:(چرګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)يو قسم کورنے مارغهٔ چې غوبه يَ حوړے شي-(۲)صحرائے چرګ- هغه چرګ چې پهٔ صحرا کښې الوځی- لونيټ- بېګر- (۲)تېپوس- (۴)چرغ- سائنسی نوم هائيډروسيسا کارونېټا -(HYDROCISA CORONATA) (۵)دَ اس يا بل ښاروی پهٔ تندی کښې سپين نښان-

چرګ:(چرګ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)هنرمند- کاريګر- (۲)قابل- هوښيار- کاغ-

چرګ بانګ:(چَرګ-بانګ)اسم- واحد- مذکر- چرګ بانګے- پېشمنے- پېشلمے- چرګ بانګ مال- دَ سحر آغاز- چرغږ-

چرګ بانګے:(چَرګ-بانګ-ګے)اسم- واحد- مذکر- پېشمنے- پېشلمے- د پېشمنی وخت- دَ سحر دَ راختو نه مخکښې وخت-

چرګ برګ:(چَرګ-بَرګ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱) تور او سپين- برګے چرګے- (۲)دوکه باز- ټګ- چلباز- منافق- چمباز- ابلق-

چرګ بی:(چرګ-بي)اسم- پالک ساګ- نباتاتی نوم جَسټيشيا نَسوټيا (JUSTICIA [illegible])-

چرګ خالے:(چرګ-خا-لے)اسم- واحد- مذکر- چرګ غالے- کوډله- کوډی- دَ چرګانو کوټی- مرغانچه- د چرګو کوټکی-

چرګ وږ:(چرګ-وږ)اسم- واحد- مذکر- چرګ غږ- چرغنک- چرګ بانګے- دَ سحر نه مخکښې وخت-

چرګ سابهٔ:(چَرګ-سا-بهٔ)اسم- جمع- مذکر- چرګ پالک- چرګوړے- يو قسم مشهور ساګ- دَ نباتاتی نوم دَ پاره وګوری چرګ بی-

چرګ سترګے:(چَرګ-سټر-ګے)اسم- مذکر- يو قسم شينکے-

چرګک:(چر-ګک)اسم- واحد- مذکر- ملاچرګک- هُدهُد- ګوړے چرګ- کوکوښ- بوبوتنکے- ملوګوړ-

چرګ مرګ:(چَرګ-مَرګ)اسم مرکب- مَرګ مهمل کلمه ده چې بعضې وخت دَ چرګ سره ونيلے کيږی-

چرګ مرګو:(چرګ-مر-ګو)اسم- د چرګانو رنځ- ټوغکے- ټوغے- هغه بيماری چې پهٔ هغې کښې چرګ چرګوړی مری-

چرګند:(چر-ګند)اسمِ صفت- څرګند- ښکاره-

چرګ ناری:(چَرګ-نا-ري)اسم- مؤنث- چرګ بانګ- چرګ غږ- چرګ وږ-

چرګ نارے:(چرګ-نا-رے)اسم- واحد- مذکر- هغه مېلمستيا چې چرګ پکښې حلال شوے وی- دَ چرګ مېلمستيا-

چرګوټے:(چَر-ګو-ټے)اسم- واحد- مذکر- چميکے- دَ چرګې بچے- چرګوړے- ميسوړے- ووړکے چرګ- د چرګ تصغير- چرګوچے- چرګوړے- چرکيړے- چومکے-

چرګوچے:(چَر-ګو-چے)اسم- واحد- مذکر- وګوری چرګوټے-

چرګوړی:(چر-ګو-ړي)اسم- واحد- مؤنث- چرګوټی- ووړکې چرګه چې لا پهٔ اګو نهٔ وی راغلې-

چرګوړے:(چر-ګو-ړے)اسم- واحد- مذکر- وګوری چرګوټے-

ی: (ښی-رل)، ي:(مي-ره-ول)، ی:(ميا-لی)، ے:(تن-دے) تفصيل د پاره وګوری تشريحات صفحه ۱

www pukhto net

چرګوړے:(چر-ګو-ړے)اسم- مذکر- پالک- يو قسم ساګ-

چرګه:(چر-ګه)اسم- واحد- مؤنث- يو کوربنے مارغهٔ چې اګی او غوښه ې خوړے شی-

چرګيړے:(چر-ګی-ړے)اسم- واحد- مذکر- جمع چرګيړی- مؤنث چرګيړی- وګورئ چرګوټے-

چرګی:(چَر-ګی)اسم- مؤنث- (۱)هغه غلور کونجه نغرے چې د کوټې په ميخ يا کونج کښې جوړ وی- انغرے- نغرے- (۲)دَ نغری نه ګير چاپيره تاؤ را تاؤ موړه-

چرګے:(چَر-ګے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)بې شرمه- بې وعدې- (۲)هغه اَس چې په تندی ې سپينې نښې وی- هغه ځناور چې په وجود ې تور ټاکي وی- برګ بروګ- برګ- پروګے- هغه ځناور چې تندے ې سپين وی-

چرلاز:(چر-لاز)اسم- واحد- مذکر- مشين خانه- د مشينونو کوټه- د مشينونو ځاې- ورکشاپ- دَ مشينونو خونه-

چرلاوړ:(چر-لا-وړ)اسم- واحد- مذکر- کړزند- کرخند- کرخاند-

چرلانی:(چر-لا-نی)اسم- مؤنث- چلوانی- يو قسم ساګ- نباتاتی نوم بمربش کريسيتس ROSTRUM NASTURTIUM-

چرلپ:(چر-لپ)اسم- واحد- مذکر- (۱) د لرګی هغه ټوټه چې شړشمشو نه بېل وباسی- (۲)هچ پچ-

چرلټ:(چَر-لټ)اسم صفت- کرسره- قطعی- بيخی- چورلټ- ټول- سراسر- بالکل- قطعی- تمام-

چرلک:(چَر-لک)اسم- چورلک- څرخ- ببر- چکر- ګردش- دور- تاؤ-

چرلکے:(چر-ل-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ پټو پونده- دَ پېزار پونده- د موچئی پسکی- دَ مچنی پونده- (۲)دَ ښځې دَ مخصوص ځاې چونګک او کچه- (۲)چرلنډے- چورلنډے- پرپره-

چرلنډ:(چَر-لنډ)اسم صفت- واحد- مذکر- بې سرو پښو- بې موره- بې پلاره- لګه-

چرلنډ:(چَر-لنډ)اسم صفت- واحد- مذکر- غريبی- دوکه باز- بې ايمانه-

چرلنډے:(چر-لن-ډے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چرلنډے-

چرلنډو:(چَر-لنډو)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)چټ- بدمعاش- لرلے- حرامی- لوچ- لونډ- لړو سپو- کچر- چولر- (۲)خاکسار - عاجز- کم نوسه- ايمن- متواضع- خورلنډ-

چرلنډے:(چر-لن-ډے)اسم- واحد- مذکر- چرلنډے- پرپره-

چرلنګ:(چر-لنګ)اسم صفت- واحد- مذکر- مات-

چرلول:(چر-ل-ول)مصدر متعدی- وګورئ چورلول-

چرلی عرب:(چر-لی-عرب)اسم- مذکر- مشين ګن- يوه فوجی اسلحه-

چرليدل:(چَر-لي-دل)مصدر لازم- وګورئ چورليدل-

چرلے:(چر-لے)اسم- واحد- مذکر- چورلے- چورلنډے- پری- پېرکے- بقندے- دَ ماشومانو دَ لوبو يو څيز چې څرخ خوری-

چرم:(چرم)اسم- واحد- مذکر- څرمن- پوستکے- پوست- پوټکے- پوبخے-

چرما:(چر-ما)اسم- وګورئ اربکی-

چرمباز:(چ-رم-باز)اسم- واحد- مذکر- (۱) د غوبل اخری غوائے- ګرمباز- ترمباز- پلوے- (۲)هغه غوا چې نرلن سخی راوړی-

چرمری:(چر-م-ری)اسم- د نوخيانو په ټوپکو نښه ويشتنه- چالماری- چاندماری- چلماری-

چرمبکه:(چر-مبن-که)اسم- واحد- مؤنث- کربوړے- چرمبکی-

چرمبکی:(چر-مبن-کی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)شرموښکی- چرمبنی- خرمبکی- کرمبخار- کربوړے- د کربوړی يو قسم- چرمشکی- بانتوبسه- پانتو- چرمبکه- چرمکی-

چرمبنی:(چر-مه-بنی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ چرمبکی-

چرمبے:(چر-مه-بنے)اسم- واحد- مذکر- د ګرځې دوک- پټانسے- تکی- (افغانستان)-

چرمک:(چر-مک)اسم- واحد- مذکر- دَ ګرځې دَ دوک ګرمن- هغه ګرمن چې دَ دوک لاندې برخه پکښې بنده وی- د ګرمنې هغه وړه ټوټه چې دَ ګرځې دوک پکښې ګرځی- چرمکی- ګردی-

چرمکی:(چر-مه-کی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)چرمبکی- (۲)چرمک-

چرمکے:(چر-مه-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ټکے-

چرمګر:(چرم-ګر)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه څوک چې څرمنې صفا کوی-

چرموچرک:(چر-مو-چَرک)اسم- واحد- مذکر- قتلمه- وړه روغنی ډوډۍ چې حوړه کړے شوې وی-

چرموچرک:(چر-مو-چرک)اسم- واحد- مذکر (۱)وړوکې چرمبکی- (۲)چرموچړے- ډېر پوست شوے-

چرموچړے:(چر-مو-چړے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چرموچرک-

چرموړ:(چر-موړ)اسم صفت- واحد- مذکر- ټپو لاندې شوے- مچلے شوے- مروړلے شوے- پانمال- خرميچ شوے- چخبيت- چختان شوے- چخنی شوے-

چرموړکے:(چر-مو-ړکے)اسم صفت- وګورئ جنجړيا-

چرموړل:(چر-مو-ړل)مصدر متعدی- مروړل- چټنی کول- چخنی کول- مسل- پانمالول- خرميچول- چخبيتول- چرموړول- مات ګډ کول- لتاړول-

چرموړلے:(چر-مو-ړلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع چرموړلی- مؤنث چرموړلې- وګورئ چرموړل-

چرموړن:(چر-مو-ړن)حاصل مصدر- وګورئ چرموړل-

چرموړنګ:(چر-مو-ړنګ)حاصل مصدر- وګورئ چرموړل-

چرموړنه:(چر-مو-ړنه)حاصل مصدر- وګورئ چرموړل-

چرموړول:(چر-مو-ړول)مصدر متعدی- وګورئ چرموړل-

چرموړولے:(چر-مو-ړو-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ چرموړلے-

چرموړون:(چر-مو-ړمون)حاصلِ مصدر- وګورئ چرموړل-

چرموړونکے:(چر-مو-ړون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چرموړل-

چرموړونکے:(چر-مو-ړمرون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع چرموړونکی- مؤنث چرموړونکې- وګورئ چرموړل-

چرموړونګ:(چر-مو-ړمونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ چرموړل-

چرموړونه:(چر-مو-ړمونه)حاصلِ مصدر- وګورئ چرموړل-

چرموړوۀ:(چر-مو-ړموۀ)حاصلِ مصدر- وګورئ چرموړل-

چرموړۀ:(چر-مو-ړۀ)حاصلِ مصدر- وګورئ چرموړل-

چرمه:(چر-مه)اسم- (۱) هغه پټه چې د زرو دَ تار نه جوړه شوې وي- دَ زرو پلن تار- چهرمه- لېس- کناره- کناری- (۲- مذکر)دَ شین رنګ آس- (۲- صفت)پۀ اړخ-

چرمی:(چر-می)اسمِ صفت- دَ څرمنې- د چرم- څرمنې سره تړلے- پۀ څرمن مربوط-

چرمینه:(چر-می-نه)اسم- ورګیمه- بانړے- دَ څرمنې پړے- هغه پړے چې دَ عوا یا غوټې د څرمنې نه غزل شوے وي- د کچه څرمنې نه جوړه رسۍ-

چرمېشکه:(چر-مېش-که)اسم- واحد- مؤنث- چرمبکۍ- یوه بې ضرره حشره چې ګلور پښې ې وي-

چرند:(چرند)اسمِ صفت- واحد- مذکر- هغه څوک چې زیاتې او بې ځایه خبرې کوي- بکواسی- قړتن- کړتن- قړتو- کړتو- چرچړے- چرندلے- چرتے-

چرندک:(چرن-دک)اسم- واحد- مذکر- چتے- چترلے- چوروندلے- چتکے- چیتکے- پتکے-

چرندک:(چرن-دک)اسمِ صفت- واحد مذکر- وګورئ چرند-

چرمدرکې (چرن-رو-کې)اسم- مؤنث- چرخه-

چرندوکے:(چرن-دو-کے)اسم- واحد- مذکر- چتے- چتکے-

چرنګ:(چرنګ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چرنګ-

چرنګ:(چرنګ)اسم- واحد- مذکر- یو قسم بوټے چې ځانګه یې غڼه شي نو دَ پیو غنډې سپینه مائع ترې راوځي- شودۀ پن- پیورکے-

چرنګه:(چرنګ-که)کلمۀ استفهام- وګورئ څنګه-

چرنګے:(چرن-ګے)اسم- واحد- مذکر- هغه مرغ چې نارې وهي- نارنی مرغ- نارنی کرلے- یو قسم مرغ-

چرنی:(چرنی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)دَ بورې ټوټه- دَ بوجۍ ټوټه- دَ ټاټ ټوټه- زل- دَ کوټې ټوټه چې برګران پکښې ساګ یا وابئۀ اوړي- (۲- صفت)پېره خبرلوګه جینۍ- نېغکۍ- قړتنه- (۲)وړه جینۍ- کوچنۍ-

چرنے:(چرنے)اسم- واحد- مذکر- (۱- صفت)نېغکے- قړتو- بې ځایه مشر- (۲)کوچنے- ووړکے ماشوم-

چروب:(چروب)اسمِ صفت- واحد- مذکر- تیار- څرب- غوړب- مضبوط- چاغ- چاق- مزے- تکړه-

چروره:(چرو-ره)اسم- واحد- مؤنث- د شیمولو یا غوزانو کولو کوغالے (قوتے) چې پۀ زمکه کښې کنستلے شوے وي- غوچوړے- کوتې- قوتې- قوتے- کوندرے- تنک-

چروسه:(چ-رو-سه)اسم- مؤنث- بړوی- بوړی-

چروک:(چروک)اسم- مذکر- پلار- وخت- چړونکے- دَ اُبو هغه ویش چې دَ شپې او ورځې دَ اتمې برخې سره معادل وي-

چرونه:(چ-رو-نه)اسم- جمع- مذکر- دَ لیندۍ پۀ سر کښې دَ زۍ دَ پاره دوارو پیو ته چرونه یا خرپونه- خرپونه- زاغ کمان-

چره:(چ-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱) دَ سرپو څخه جوړه هغه وړه دانه چې پۀ بادۍ ټوپک کښې ویشتلے کیږي- (۲)دَ اسپنې او سیکې څخه جوړه وړه ګول دانه چې دَ مختلفو کارونو لۀ پاره پکارولے شي-

چره:(چ-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پۀ کنو برخو کښې دَ ویشلې شوې پټې دَ کنو برخو نه یوه برخه- دوبچه- جوبه- بېچه- دَ پالېز دوبچه- (۲)زخم- درز- (۲)فوجي خدمت ته نوم ورکونه- (افغانستان)-

چره:(چ-ره)اسم- واحد- مؤنث- جزیره- ټاپو-

چره:(چ-ره)اسم- واحد- مؤنث- هغه چاڼ چاڼ اُبۀ چې دَ لوې سیند نه رابېلې شوې وي او دَ څۀ فاصلې نه پس دوباره پۀ سیند کښې ورګډې شوې وي-

چره نیز:(چ-ره-نیز)اسم- واحد- مذکر- چرېدار ټوپک- چرنیز- چرییز-

چرهار:(چ-ره-هار)اسمِ صوت- دَ مرغیو چیار- دَ مرغیو ګڼ آوازونه- دَ مرغیو چوپار- دَ مرغانو چوپارے-

چری:(چ-ری)اسمِ صفت- واحد- مذکر- سوالګر- چړی-

چری:(چ-ری)اسم- واحد- مؤنث- دَ اُور بلولو انګیټۍ-

چرنیز:(چ-ره-ایز)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چرېدار-

چریک:(چ-ریک)اسم- واحد- مذکر- سرباز- سرتېره- ځان قربانونکے- پلار تېزان-

چریکی:(چ-ری-کی)اسمِ صفت- دَ پلار تیزان- دَ چریک- سربازی- سرتېری- پلارتیزانی-

چریکے:(چ-ری-کے)اسم- واحد- مذکر- ورغومے- چېلے- پسکورے- څېرلکے- کچکے- مرغومے- چېرلے- کچوکے- څېرلے- بزغاله-

چریلکه:(چ-ریل-که)کلمۀ تحسین- شاباسے- آفرین- مرحبا- ډېر ښۀ ونیل-

چرین:(چ-رین)اسم- کړین- ګرېدونکے- (م- هندی)-

چرینکارے:(چرینګ-کارے)اسمِ صوت- نرے نرے آواز-

چرې:(چ-رې)ضمیر- وګورئ چېرې-

چرې چرې:(چ-رې-چ-رې) متعلق فعل- (مرکب) کله کله- چرې- کله نا کله-

چرېدار:(چ-رې-دار)اسم- واحد- مذکر- چرې لرونکے ښکاري ټوپک- چرنیز ټوپک- چرنیز- هغه ټوپک چې چرېدار کارتوس پرې خلاصولے شي- چره ټی- چره ټی ټوپک- پترکله-

چرېدل:(چ-رې-دل)مصدرِ لازم- (۱)چغېدل- آواز کول- چونېدل- چرچر کول-

www.pukhto.net

(۲)ونېدل- ترېدل- ترتېدل- نعرې سورې وهل- کوکې وهل- چغې وهل- (۳)ګړېدل- (۴)د تيټر اواز کول-

چرېدلے:(چ-ري-دَ-لے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چرېدل-

چرېدن:(چ-ري-دن)حاصل مصدر- وګورئ چرېدل-

چرېدنګ:(چ-ري-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چرېدل-

چرېدنه:(چ-ري-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ چرېدل-

چرېدونکے:(چ-ري-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چرېدونکي- مؤنث چرېدونکې- وګورئ چرېدل-

چرېدۀ:(چ-ري-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ چرېدل-

چرېکار:(چ-ري-کار)اسم- واحد- مذکر- (۱) بزګر- مزدور- دهقان- (۲)شريک کارکونکے-(۳)هغه مزدور چې د مالک په پټي کښې په څلورمه برخه کار کوي- (۴)د لاندې شونډې وېښته- (۵)وګورئ اره کوړه-

چرېکاري:(چ-ري-کا-ري)اسم- واحد- مؤنث- د چرېکار کسب او کار- دهقاني- زميداري- بزګري- کرونده- کښت ګري- د کرکرونډي کار-

چرۍ:(چَ-رۍ)اسم- مؤنث- (۱)يو قسم الګ- ژېړالو- کوک سلطان- (۲)ووړکے ديګ چې پکښې ګوښکورے وي- (۳)تاله- نلۍ- لښتے- الف- وياله- بياله- (۴)يو قسم غټ اغزي لرونکے بوټے- (۵)د پخلي يو قسم ښکاري ده چې په سر باندې د اُبو اودان او د ديګونو اېښودلو د پاره مخصوص ځايونه لري- (۶)د الوچې په شان ميوه داره ونه چې ميوه ئې توره او سره وي- (۷)د خېمې نه ګېر چاپېر کسټلے ځای- چارکنده- چارنده-

چړ:(چړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)ډرونبزه- ټوک ټولونه- خېر ټولونه- ګدائي کونه- وظيفه ټولونه- وريجه ټولونه-(۲)د باران تېزه شېبه- (۳)ځوړ- مخ کوږے- اوترانې- (۴)هغه خاورې او شګې چې سېلاب راوړې وي او په يو ځای جمع شوې وي- (۵)د سېلاب لاره- (۶)قتلِ عام- (۷)د کبانو د پخېدو آواز- (۸)د منداتو د منځ غټ لرګے- (۹)په سيند کښې هغه ځای چې چرته کاږ وي اوبه نسبتاً کمې وي او تېزې بهېږي او پاياب (پاياب)کېښې لګي-

چړ:(چړ)اسم- (۱)زغل- وچ- ټوپ وهنه- (۲)پرېښونه-

چړا:(چ-ړا)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)کم عقل سړے- (۲)ګوسکه- کوسکے- (۳)د بنګړيوالو يو قوم چې د رنګه تور وي-

چړا:(چ-ړا)اسم صوت- د ابو د توښدلو آواز- د تېز باران آواز- د تړی نه د اُبو د توښدلو آواز-

چړاچړ:(چ-ړا-چړ)اسم صفت- لوړه ژوره- پېچ وخم- چې هواره نۀ وي-

چړاخ:(چړ-ړاخ)اسم- واحد- مذکر- لوئ زخم- ژور زخم- ژور پرهار- ژور پيارور-

چړاخول:(چړ-ړا-خه-ول)مصدرِ متعدي- زخم لويول- پرهار لويول- پيارور ستړول- زخم ژورول-

چړاخون:(چړ-ړا-خه-ون)حاصل مصدر- وګورئ چړاخول-

چړاخونکے:(چړ-ړا-خه-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چړاخونکي- مؤنث چړاخونکې- وګورئ چړاخول-

چړاخونګ:(چړ-ړا-خه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چړاخول-

چړاخونه:(چړ-ړا-خه-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ چړاخول-

چړاخوۀ:(چړ-ړا-خه-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ چړاخول-

چړاخېدل:(چړ-ړا-خې-دل)مصدرِ لازم- زخمي کېدل- پرهارژلے کېدل- چړاخ کېدل-

چړاخېدن:(چړ-ړا-خې-دن)حاصل مصدر- وګورئ چړاخېدل-

چړاخېدنګ:(چړ-ړا-خې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چړاخېدل-

چړاخېدنه:(چړ-ړا-خې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ چړاخېدل-

چړاخېدونکے:(چړ-ړا-خې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چړاخېدونکي- مؤنث چړاخېدونکې- وګورئ چړاخېدل-

چړاخېدۀ:(چړ-ړا-خې-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ چړاخېدل-

چړانګو:(چړ-ړانګ-ګو)اسم- واحد- مذکر- (۱)د هندوانو، بادرنګو او خربوزو يا نورو ميوو او سبزيو ځېلې- (۲)بېنې-

چړانګے:(چړ-ړانګ-ګے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم د ولې ونه چې څانګې ئې زمکې ته ځوړندې وي- بېد مجنون- بېنے-

چړاو:(چ-ړاو)اسم- (۱) چړ- قتل عام- د خلقو قتلونه- (۲)ختنه- (۳)حمله کونه-

چړاوتار:(چړ-او-تار)مصدر- هسک او ټيټ کونه- بکته او پورته- پورته کېدنه او ښکته کېدنه-

چړاوه:(چړ-ړا-وه)اسم- مؤنث- هغه اوبه چې د کارېز يا بند تړلو نه پس لږې لږې راځېږي- زيم- چکاره- نو- نم-

چړاوے:(چړ-ړا-وے) اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ چړاوے-

چړانۍ:(چ-ړا-نۍ)اسم- واحد- مؤنث- مخ په پورته او ښکته ختلې لار- وُچته لار- پېچومے- (م- هندي)-

چړپ:(چړپ)اسم صوت- (۱)د اُبو د توښېدلو آواز- شړپ- ترپ- چړپا- چړپے- (۲)هغه آواز چې د شوندو نه د څۀ څيز خوړلو يا پېي اخستو په وخت زځي- تخ- تق- خوند- مزه-

چړپا:(چړ-پا)اسم صوت- وګورئ چړپ-

چړپ چړپ:(چړ-پ-چړپ)اسم صوت- (۱)شړپ شړپ- د سپي د اُبو څښلو يا حوراک خوړلو په وخت د خلې آواز- (۲)په کمو ژورو اُبو کښې د بنيادم يا د حيوان د ګرځېدو آواز-

چړپن:(چړ-پن)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)عبث خبري کونکے- بکواسي- عبث غږېدونکے- قرتن- (۲)چړبند- شړپېدونکے لوښے- هغه لوښے چې اُبه تري توښېږي-

زبر "(خ-سه-ره)"، زورکے "(شل)"، پېش "(نو-کا-ره)"، زېر "(کتاب)"، جزم "(شخون)"، "ۀ" "(و-ده)"، "ۀ" "(دو-سي-دۀ)"

www.pukhto.net

چړپند:(چړ-پند)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ چړپن-

چړپول:(چړ-پـ-ول)مصدر متعدی- (۱)چوپول- په څهٔ څیز څله وهل- په څهٔ څیز شونډي شړپول- (۲)په اُبو کښې په لاس وهلو سره چپې پیدا کول- شړپول- (۳)دُ اُبو پړک لوښے شوروول- (۴)تـاوانی کول- زیـانمن کول- زیانمنول- زیان رسول- نقصانی کول-

چړپولے:(چړ-پـ-وڅلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع چړپولی- مؤنث چړپولې- وګورئ چړپول-

چړپون:(چړ-پـ-ون)حاصل مصدر- وګورئ چړپول-

چړپونکے:(چړ-پـ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چړپونکی- مؤنث چړپونکې- وګورئ چړپول-

چړپونګ:(چړ-پـ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چړپول-

چړپونه:(چړ-پـ-وڼنه)حاصل مصدر- وګورئ چړپول-

چړپوهٔ:(چړ-پـ-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ چړپول-

چړپهار:(چړ-پ-هار)اسم صوت- (۱)شړپار- شړپهار- شړپے- چړپے- د چړپ چړپ آواز- دُ اُبو شړپولو آواز- (۲)په کمو ژورو اُبو کښې دُ حیوان یا انسان دُ ګرځېدو آواز-

چړپېدل:(چړ-پې-دل)مصدر لازم- (۱)شړپېدل- په څهٔ څیز څله وهلے کېدل- په څهٔ څیز شونډي ښوربېدل- په څهٔ څیز شونډي شړپېدل- (۲)تـاوانی کېدل- پېښېدل- خښېدل- زیانمن کېدل- زیانمنېدل- نقصانی کېدل- (۳)په اُبو کښې لاس وهلو سره چپې پیدا کېدل- چړپېدل- مایعات ښوربېدل- (۴)دُ اُبو پړک لوښے ښوربېدل-

چړپېدلے:(چړ-پې-دڅلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع چړپېدلی- مؤنث چړپېدلې- وګورئ چړپېدل-

چړپېدن:(چړ-پې-دن)حاصل مصدر- وګورئ چړپېدل-

چړپېدنګ:(چړ-پې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چړپېدل-

چړپېدنه:(چړ-پې-دڼنه)حاصل مصدر- وګورئ چړپېدل-

چړپېدونکے:(چړ-پې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چړپېدونکی- مؤنث چړپېدونکې- وګورئ چړپېدل-

چړپېدهٔ:(چړ-پې-دهٔ)حاصل مصدر او دُ ماضی استمراری دُ واحد غـائب صیغه- وګورئ چړپېدل-

چړپے:(چړ-پے)اسم صوت- شړپے- چړپا- شړپار- چړپهار- شړپی- شړپهار- دُ چړپ چړپ آواز-

چړت پړت:(چړت-پړت)اسم صفت- (۱)غوړ پړ- پړ غوړ- (۲)ګرت پړت- هېڅ نهٔ رښیل- غږ نهٔ کونه- وږ نهٔ کونه-

چړتول:(چړ-تـ-ول)مصدر متعدی- لهٔ کاره ویستل- لهٔ مېنځه وړل-

چړتولے:(چړ-تـ-وڅلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- شړتولے- لهٔ کاره وېستلے- لهٔ منځه وړلے-

چړتون:(چړ-تون)اسم- واحد- مذکر- دُ چړې تېکے- غلاف- دُ چړې پوښ- دُ چړې پوښ- دُ چړې تکه- د تورې پوښ- تېکے- د تورې تېکے- چېتون- چنتون- (۲)تلوسه- چړ-

چړچق:(چړ-چق)اسم صوت- واحد- مذکر- وګورئ چړچقې-

چړچقه:(چړ-چـ-قه)اسم صوت- واحد- مؤنث- (۱)چړچقې- (۲)چړچکې-

چړچقې:(چړ-چـ-قې)اسم صوت- جمع- مؤنث- (۱)دُ چړګې هغه آوازونه چې دُ اګی اچولو نه وړاندې وروستو کوی- (۲)دُ زرګې آوازونه- (۳)دُ مرغیو آوازونه- (۴)ناړې سورې- چغې- چړچټو- چغو-

چړچک:(چړ-چک)اسم- لاسوه تپونه-

چړچکه:(چړ-چـ-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مالهٔ- دُ شودیارې مالهٔ- دُ سادین دُ هوارولو مالهٔ- دُ بزګرې هغه آله چې شودیاره پرې هوارو‌ی- (۲)چکې- ناکې- چاکې- چک چک- چړچقه-

چړچکې:(چړ-چـ-کې)اسم- جمع- مؤنث- چک چکې- تناړی- لاس تکونه- ناکې وهـه- چکې-

چړچوبک:(چړ-چو-بک)اسم صفت- واحد- مذکر- ابړن- چړچوبن- نرے- اسژن- اُبلن-

چړچوبن:(چړ-چو-بن)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ چړچوبک-

چړچوبه:(چړ-چو-به)اسم- مؤنث- هغه پوړی چې په کرتو کښې ماته شی او د پاسه پرې غوړی واچولے شی- کورت او غوړی-

چړچوبی:(چړ-چو-بی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)غسل خانه- دُ لمبلو ځاې- چارچوبی- چمچوبی- لمبل ځاې- سقاوه- چړچوبی- تشناب- غسل خانه- (۲)تنګ کوړ- تنګ ځاې- (۲)چارسو-

چړچه:(چړ-چه)اسم- چړچه- عیش عشرت- میله- مزه- عیاشي- مزې مېلې- (۲)لوندېتوبه- کاسیری- مفرل خرچی- فضول خرڅی-

چړچی:(چړ-چی)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ چړچیی-

چړچیی:(چړ-چـ-ښی)اسم صفت- واحد- مذکر- په مزو چړچو کښې رخت تېرونکے- عیشی- عیاش- قلاش- چړچناک- اواره- ګرځله- لوفرداتے- بدچلند- رنډی باز- لندونے-

چړچیوه:(چړ-چی-وه)اسم- واحد- مؤنث- چړچوبی- چارچوبی- دُ لمبا ځاې- غسل خانه- سقاوه- حمام- د لمبلو ځاې-

چړړا:(چړ-ړا)اسم صوت- شړړا- شړار-

چړړوت:(چړ-ړوت)اسم صوت- وګورئ چړړوت-

چړزندی:(چړ-زن-دی)اسم- مؤنث- تیربندی- تیوه بندی- د امن معاهده-

چړس:(چړس)اسم- واحد- مذکر- چړس-

چړغ:(چړ-غ)اسم- واحد- مذکر- جوړنګ- جلغ- خېلی- جیلغ-

چړغه:(چړ-غه)اسم- واحد- مؤنث- هغه تېرهٔ کانړے چې دُ ضرورت په وخت کښې پرې ښاروی حلالولے شی- چړ- چښکے- چوړے-

چړق:(چړق)اسم صوت- (۱)دُ لرګی د ماتېدو آواز- (۲)دُ اُبو یا بل مائع څیز په زمکه دُ توئېدو آواز- شړپ- چړپ- چړک- (۳)تېز باران- شړق-

ی" (ځی-رل)، ي"(ځي-ره-وڵ)، ې"(پیا-لې)، ے"(تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

(۴)آفت- آپت- مصیبت- تکلیف- (پرېوتل مصدر)-

چړقاږ:(چړ-قاږ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چړکاږ-

چړک:(چۀ-ړک)اسم- واحد- مذکر- (۱)آسمان- (۲)تاله- جرندہ- کُلپ- جمع چړکونه-

چړک:(چړک)اسم- واحد- مذکر- دَ دروازې تمبه- دَ دروازې اړم- دَ دروازې تمبو-

چړک:(چړک)اسم صوت- (۱)دَ لرګی دَ ماتېدو آواز- دَ اُبو دَ تونېدو آواز- دَ هٔ کلک څیز دَ ماتېدو آواز- ټک- ټنګ- درز- دَ دړو ګیرونو په خپلو کښې دَ جنګېدو آواز- (۲)سېلاب- ګړک-

چړکانې:(چړ-کا-نې)اسم- مذکر- واحد- هغه کانې چې چاقو چاړۀ پرې تېرۀ کولے شی- برچ- بېلو- اسونے- مخوره-

چړکاږ:(چړ-کاږ)اسم- واحد- مذکر- چنکاږ- دَ دړو کښېنولو په غرض نرې نرې اُبهٔ شیندنه- دَ اُبو پاشنه- پاشنه- دَ اُبو شندنه- يو ځاې اُپاشی کونه- ترمکیا- ترمکه- ترمکه کونه-

چړکاول:(چړ-کا-و-ول)مصدر متعدی- نرې نرې اُبهٔ ترمیا کول- اُبهٔ شیندل- دَ اُبو شنل- دَ اُبو شندل- اُپاشی کول- زمکه په اُبو لوندول- ترمکه کول- په لاس لږې لږې اُبهٔ خورې ورې اچول-

چړکاوون:(چړ-کا-و-ون)حاصل مصدر- وګورئ چړکاول-

چړکاوونکے:(چړ-کا-و-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چړکاوونکی- مؤنث چړکاوونکې- وګورئ چړکاول-

چړکاوونګ:(چړ-کا-و-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چړکاول-

چړکاوونه:(چړ-کا-و-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ چړکاول-

چړکاووۀ:(چړ-کا-و-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ چړکاول-

چړکه (چړۀ-که)اسم- مؤنث- (۱)برېښ- درد- ګړیکه- سوز- چړیکه- ځانګه- (۲)خلا- برېښنا کونه- ځلېدنه- برېښېدنه-

چړکه:(چړ-که)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم وړه خړرنګې مرغۍ چې اوږده لکۍ لری-

چړکه:(چړ-که)اسم صفت- واحد- مذکر- بې همته او ناراسته سړے- لټ-

چړکی:(چړ-کی)اسم- واحد- مؤنث- چړوکی- وړه چاړه- چړوکی- چاړه- چړوکی- چاړوکی- چړکے-

چړکے:(چړ-کے)اسم- واحد- مذکر- چاقو- چاکو- جمع چړکی-

چړګر (چړ-ګر)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)خېرمار- درویزه- فقیر- چړمار- سوالګر- چړی- سوالی- چړو- هغه فقیر یا سوالګرے چې کور په کور چړ ټولوی او سوال کوی- (۲)وظیفه ټولونکے- وظیفمار- چنے-

چړګے:(چړ-ګے)اسم- واحد- مذکر- پاياو- پایاب- په دریاب کښې هغه کانیز ځاې چې لږې لږې اُبهٔ پکښې بهیږی-

چړمار:(چړ-مار)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ چړګر-

چړمیني:(چړ-مي-ني)اسم- جمع- مؤنث- ځرمني-

چړن:(چ-ړن)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)مخ چړن- (۲)مخ خوړند-

چړن:(چ-ړن)اسم- دَ سېلاب لاره- غولی-

چړنګ:(چو-ړنګ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ جوړنګ-

چړنګ:(چړنګ)اسم صوت- لهٔ لوړه ځایه دَ لږو اُبو دَ تونېدو آواز-

چړو:(چ-ړو)اسم- واحد- مذکر- يوه خړرنګې مرغۍ چې لکۍ ئې اوږده وی-

چړو:(چ-ړو)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)لټ- بې همته او ناراسته سړے- (۲)چړګر- خېر غښتونکے-

چړوبن:(چ-ړو-بن)اسم صفت- واحد- مذکر- اُبړن- اُبزن- نوږن- نمږن- اُبهٔ لرونکے- ابلن-

چړوبے:(چ-ړو-بے)اسم- واحد- مذکر- (۱)اَشار- خړوبے- ابشار- چړووے- چړوبے- (۲)په پرچون خرڅونه- پرچون فروشی- (۳)دَ پرچون سوداګر- جمع چړوبی چړوبیان-

چړوبے:(چه-ړو-بے)اسم- واحد- مذکر- چړووے- رنګرېز- ننګرېز- نیل ګر- رنګساز- جمع چړوبی-

چړوتوب:(چ-ړو-توب)اسم- بې غېرتی- بې همتی- پستی- ناراستی-

چړوس:(چ-ړوس)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)بې همته- خړوس- پست- بې شرمه- بدسړے- (۲)ډېر زیات شوم- جمع چړوسان-

چړوسی:(چ-ړو-سی)اسم- مؤنث- (۱)ناراستی- بې همتی- خړوستوب- پستی- چړوس والے- بې حیائی- بې شرمی- (۲)ډېر شوم والے-

چړوک:(چړوک)صفت- ټک- وار- خل- دم- ساعت- ژر- فوراً- په يو وار- په يو ټک- په يو خل- په يو ساعت-

چړوکی:(چ-ړو-کی)اسم- واحد- مؤنث- چړوکی- چړکی- ورکوټې چاړه-

چړول:(چ-ړ-ول)مصدر متعدی- (۱)چړکاژول- چنکاږ کول- پاشل- اُبهٔ نښتل- (۲)بیول- لهٔ نسه کول- اسهالول- په دستونو کول-

چړون:(چ-ړ-ون)حاصل مصدر- وګورئ چړول-

چړونکے:(چ-ړ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چړول-

چړونګ:(چ-ړ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چړول-

چړونګ:(چړونګ)اسم صوت- دَ چرګوټو او مرغیو آواز- دَ چرګوړو سیوېدنه- دَ چنچنو آواز- دَ چرګوټیو چینګ چینګ- چړونګا- چړونګار- چړونګهار-

چړونګا:(چړونګ-ګا)اسم صوت- وګورئ چړونګ-

چړونګول:(چړونګ-ګه-ول)مصدر متعدی- چنول- سیوول- واړۀ چرګوټی په آواز راوستل- واړۀ چرګوټی چینګول-

چړونګون:(چړونګ-ګه-ون)حاصل مصدر- وګورئ چړونګول-

چړونګونکے:(چړونګ-ګه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چړونګونکی- مؤنث چړونګونکې- وګورئ چړونګول-

چړونګونګ:(چړونګ-ګه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چړونګول-

چړونګونه:(چړونګ-ګه-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ چړونګول-

چړونګوۀ:(چړونګ-ګه-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ چړونګول-

www.pukhto.net

چړونګهار :(چړونګ-ګه-هار)اسم صوت- وګورئ چړونګ-

چړونګېدل:(چړونګ-ګې-دل)مصدر لازم- چنېدل- چینګېدل- سیوېدل- چکېدل- چونېدل- د چرګو چنګېدل-

چړونګېدلے:(چړونګ-ګې-دهلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع چړونګېدلي- مؤنث چړونګېدلې- وګورئ چړونګېدل-

چړونګېدن:(چړونګ-ګې-دن)حاصل مصدر- وګورئ چړونګېدل-

چړونګېدنګ:(چړونګ-ګې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چړونګېدل-

چړونګېدنه:(چړونګ-ګې-دهنه)حاصل مصدر- وګورئ چړونګېدل-

چړونګېدونکے:(چړونګ-ګې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چړونګېدونکي- مؤنث چړونګېدونکې- وګورئ چړونګېدل-

چړونګېدهٔ:(چړونګ-ګې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ چړونګېدل-

چړونګے:(چړونګ-ګے)اسم- مذکر- ګټ ابهٔ- تکی ابهٔ- ډېري لږې ابهٔ کمې ابهٔ- بیخي کمې ابهٔ-

چړونه:(چ-ړه-ونه)حاصل مصدر- وګورئ چړول-

چړونی:(چ-ړو-ني)اسم- مؤنث- چاڼ-

چړوونے:(چ-ړه-وو-نے)اسم- واحد- مذکر- غلبېل- چاڼ-

چړووے:(چ-ړو-وے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ابشار- چړوبے- څړوبے- اوښار- چړوبے- (۲)چړوبے- رنګسار-

چړوهٔ:(چ-ړه-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ چړول-

چړوے:(چ-ړه-وے)اسم- واحد- مذکر- چړوبے- ابشار- جړوبے-

چړه:(چ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د دروازې چوڼ- (۲)تېلم- ترازه- ترټن- چنړه- ترروزه- ټنګره- (۳)چاړهٔ- چړوکی- چوړهٔ- (۴)چړ- سوال- تپوس- تپولونه- خېر تپولونه- ګدائي- (۵)وظیفه غښتنه-

چړه:(چه-ړه)اسم صفت- واحد- مذکر- مؤنث- (۱)بې وسلې- تش لاس- چې وسله ورسره نهٔ وی- (۲)جره- څره- لنډر- لونړ- بې کوږ-

چړهار:(چه-ړه-هار)اسم صوت- (۱)د اُبو وُهت ځاېٔ نه شکنه ځاېٔ ته د پرېوتو آواز- شړهار- شوړار- شړار- (۲)چونهار- چنار- چورهار- د مرغانو آواز- (۳)د کبابو د پخېدو آواز-

چړی:(چ-ړی)اسم صفت- واحد- مذکر- وظیفې غښتونکے- چړ تپولونکے- چړګر- چړمار- چنے- طالب- جمع چړیان-

چړیا:(چړ-یا)اسم صفت- اخته- لګیا- بوخت- مصروف- پهٔ څهٔ کار باندی اخته- مشغول- (کول کېدل مصدرونه)-

چړیاګر:(چړ-یا-ګر)اسم- واحد- مذکر- هغه ځاېٔ چې قسم قسم ځناور او مارغان پکښې د تماشې د پاره ساتلے کیږی- باغ و حش- ژوبڼ-

چړیلو:(چړ-یلو)اسم- واحد- مذکر- چنیا- د ځهلی د تسمې لکی- د ځیلی د بند هغه سر چې د بکسوی سره تړلے کیږی-

چړیتوب:(چ-ړی-توب)اسم- مذکر- (۱)تپوک تپولونه- خېرمارې- دروېزه ګرې- دروېزه کونه- (۲)طالبی-

چړین:(چ-ړین)اسم- ګړین- چړین- ګړېدونکے-

چړیمار:(چ-ړی-مار)اسم صفت- واحد- مذکر- ښکاری- ښکارزن- د مرغیو ښکاری- د ښکاریانو یو قوم چې د غوایانو د ګاډی پهٔ ذریعه ښکار کوی-

چړي چاکوان:(چ-ړي-چا-کوان)اسم مرکب- جمع- (۱)وسله بند- تیار بېدار- (۲)چړی او چاکوان-

چړي بړي:(چ-ړي-بې-ړي)اسم- چیری بیری- (عامیانه)- عیش معاش-

چړېدل:(چ-ړي-دل)مصدر لازم- (۱)د اُبو چړ چړ کېدل- شړهېدل- (۲)پهٔ دستونو کېدل-

چړېدن:(چ-ړي-دن)حاصل مصدر- وګورئ چړېدل-

چړېدنګ:(چ-ړي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چړېدل-

چړېدنه:(چ-ړي-دهنه)حاصل مصدر- وګورئ چړېدل-

چړېدونکے:(چ-ړي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چړېدونکي- مؤنث چړېدونکې- وګورئ چړېدل-

چړېدهٔ:(چ-ړي-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ چړېدل-

چړېس:(چ-ړېس)اسم صفت- واحد- مذکر- ناولے- ناپاکه- ناپاک- ګنده- چټل- چپاټ- چړپسن- سخا او خیرن- پوهاړ-

چړېس:(چ-ړي-سن)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ چړېس-

چړپسوار:(چ-ړپس-وار)اسم صفت- واحد- مذکر- تیار- بېدار- مسلح-

چړی:(چ-ړی)اسم- مؤنث- (۱)د کجورې پاڼه- مېزرے- مزرے- (۲)جړړی- بیلی- (۳)جړی- مسلسل باران-

چړے:(چه-ړے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چړی-

چزول:(چه-زه-ول)مصدر متعدی- جزول- سرهٔ کول- پهٔ غوړو یا تېلو کښې سرهٔ کول- وریتول- تلول-

چزون:(چه-زه-ون)حاصل مصدر- وګورئ چزول-

چزونکے:(چه-زه-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چزونکي- مؤنث چزونکې- وګورئ چزول-

چزونګ:(چه-زه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چزول-

چزونه:(چه-زه-وهنه)حاصل مصدر- وګورئ چزول-

چزوهٔ:(چه-زه-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ چزول-

چزېدل:(چه-زي-دل)مصدر لازم- (۱) جزېدل- وریتېدل- پهٔ غوړو یا تېلو کښې سرهٔ کېدل- (۲)تړپېدل- کړتېدل-

چزېدن:(چه-زي-دن)حاصل مصدر- وګورئ چزېدل-

چزېدنګ:(چه-زي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چزېدل-

چزېدنه:(چه-زي-دهنه)حاصل مصدر- وګورئ چزېدل-

چزېدونکے:(چه-زي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چزېدونکي- مؤنث چزېدونکې - وګورئ چزېدل-

ئ" (ځی-رل)، ې"(هې-ره-ول)، ی"(پیا-لې)، ے"(تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

چزېدهٔ:(چهٔ-زي-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ چزېدل-

چس:(چَس)اسمِ صوت- (۱)چسار- (۲)خوند- مزه- (اسم)-

چسا:(چهٔ-سا)اسمِ صوت- وګورئ چسار-

چسار:(چهٔ-سار)اسمِ صوت- هغه اواز چې په سکروټو يا بل تود څيز دَ اُبو اچولو په سبب پيدا کيږی- چسا- چس چس- نرے نرے شغار-

چسپ:(چَسپ)اسم- (۱)برابر- سم- درست- په قالب برابر- (۲)پېوستون-

چسپان:(چَس-پان)اسمِ صفت- (۱)چست- چالاک- (۲)تنګ- هغه جامې چې په بدن پورې نښتې وی- (۳)پېوست- نښتے-

چسپانتيا:(چَس-پان-تيا)اسم- په کار کښې تندی - چالاکي-

چسپانده:(چَس-پان-ده)اسمِ صفت- واحد- مذکر- تکړه- چابک- چست- چالاک- فعال- تېز- بېدار-

چسپناک:(چَسپ-ناک)اسمِ صفت- ملېښ لرونکے- ملېښناک- سرېښناک-

چسپوک:(چَس-پوک)صفت- مذکر- بروے- ملېښناک-

چسپول:(چَس-په-وَل)مصدرِ متعدی- سرېښول- نښلول- نصبول- نصب کول- پېوست کول- يو ځاې کول- برابرول- سمول- درستول- پېوستول-

چسپون:(چَس-په-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ چسپول-

چسپونکے:(چَس-په-وون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چسپول-

چسپونګ:(چَس-په-وَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ چسپول-

چسپونه:(چَس-په-وَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ چسپول-

چسپوهٔ:(چَس-په-وَهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ چسپول-

چسپېدل:(چَس-پي-دَل)مصدرِ لازم- ملېښېدل- سرېښېدل- نښلېدل- نصبېدل- نصب کېدل- پېوست کېدل- يو ځاې کېدل- برابرېدل- لګېدل-

چسپېدن:(چَس-پي-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ چسپېدل-

چسپېدنګ:(چَس-پي-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ چسپېدل-

چسپېدنه:(چَس-پي-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ چسپېدل-

چسپېدونکے:(چَس-پي-دون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع چسپېدونکي- مؤنث چسپېدونکې- وګورئ چسپېدل-

چسپېدهٔ:(چَس-پي-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ چسپېدل-

چست:(چَست)اسمِ صفت- واحد- مذکر- (۱)چابک- چالاک- ګړندے- متے- چاق- تُند- (۲)تنګ- راکښلے-

چستان:(چَس-تان)اسم- مؤنث- چيستان- معمه- (م- فارسی)-

چستول:(چَس-ته- وَل)مصدرِ متعدی- تېزول- تُندول- ګړندے کول- چابکول- چالاکول- چاقول-

چستون:(چَس-ته-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ چستول-

چستونکے:(چَس-ته-وون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع چستونکي- مؤنث چستونکې- وګورئ چستول-

چستونګ:(چَس-ته-وَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ چستول-

چستونه:(چَس-ته-وَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ چستول-

چستوهٔ:(چَس-ته-وَهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ چستول-

چُستی:(چَس-تی)اسم- واحد- مؤنث- بچه دان- رحم- کولمه- چشتی- موږی-

چُستی:(چَس-تي)اسم- (۱)تېزی- تُندی- چابکی- چالاکی- ګړندے والے- متے والے- چاقی- (۲)حصه- برخه- ټوټه-

چُستے:(چَس-تے)اسم- واحد- مذکر- جمع چُستي- وګورئ چوستے-

چس چس:(چَس-چَس)اسمِ صوت- وګورئ چسا-

چستېدل:(چَس-تي-دَل)مصدرِ لازم- چُستی او چالاکی اختيارول- چالاکېدل- چاقېدل- تکړه کېدل-

چستېدن:(چَس-تي-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ چستېدل-

چستېدنګ:(چَس-تي-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ چستېدل-

چستېدنه:(چَس-تي-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ چستېدل-

چستېدونکے:(چَس-تي-دون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع چستېدونکي- مؤنث چستېدونکې- وګورئ چستېدل-

چستېدهٔ:(چَس-تي-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ چستېدل-

چسېدل:(چهٔ-سي-دَل)مصدرِ لازم- په سکروټو اُبهٔ توئېدل او ترې نه چس چس اواز وتل-

چسېدن:(چهٔ-سي-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ چسېدل-

چسېدنګ:(چهٔ-سي-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ چسېدل-

چسېدنه:(چهٔ-سي-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ چسېدل-

چسېدونکے:(چهٔ-سي-دون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع چسېدونکي- مؤنث چسېدونکې- وګورئ چسېدل-

چسېدهٔ:(چهٔ-سي-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ چسېدل-

چش:(چش)ضمير- څه- څهٔ شے- څهٔ څيز-

چشپک:(چش-پک)اسم- واحد- مذکر- دَ پوستين ورې لرونکے پيوند- دَ پوستکی هغه ټوټه چې ورې لری- دَ پوستين ټوټه-

چشپيره:(چَش-پي-ره)اسم- واحد- مؤنث- بولاني- پيرکی-

چشت:(چَشت)اسمِ صوت- دَ ناراضی يا دَ چا متوجه کولو دَ پاره دَ خُلې نه وتونکے آواز- چيش-

چشتن:(چَش-تَن)اسم- واحد- مذکر- څښتن- مېړهٔ- وادهٔ کړے- خاوند- کوروالا- دَ ورو پلار-

چشتی:(چَش-تی)اسم- مؤنث- د يوی طريقې نوم چې خواجه معين الدين چشتی ته منسوبه ده-

چشتی:(چَش-تي)اسم- واحد- مؤنث- برخې-برڅې- دَ خېټې او نس پرده-

www.pukhto.net

دَ لرې تړوپې- د لرې مزار حانه- سل پاتې-

چشتے:(چِش-تے)اسم- واحد- مذکر- رحم- خپلان- خپلانځ- چشتی- چشتے- بوړی- چسنکے- چشکے-

چشکے:(چِش-کے)اسم- واحد- مذکر- وګوری: چشتے-

چشم:(چَ-شم)اسم- واحد- مذکر- سترګه- دیده-

چشم بندی:(چَ-شم-بن-دی)اسم- مؤنث- نظربندی- شعبده- حقه بازی- نیرنګ- پهٔ جادو سره دَ څیزونو شکل بدلونه-

چشم پوشی:(چَ-شم-پو-شی)اسم- مؤنث- سترګې پټول- لیدل او غرض پرې نهٔ کول- ځان ناعرضه کول- ځان پهٔ ناغرضو کښې اچول-

چشمک:(چش-مک)اسم- (۱)سترګې بندول- پهٔ سترګو اشاره کول- (۲)سترګک-

چشمکه:(چش-مه-که)اسم- مؤنث- عینکې- چشمې-

چشمه:(چَش-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)چینه- خړی- (۲)عینک- چشمې-

چشمه سار:(چش-مه-سار)اسم- هغه ځای چرته چې ډیرې چینې وی- چنوبه-

چشمې:(چش-مې)اسم- واحد جمع- مؤنث- هغه آله چې دَ بینبې یا مسالې نه جوړه وی- د کم نظر دَ پاره- سترګې دَ نمر نه بچ کولو او دَ پول دَ پاره پهٔ سترګو لګولے شی- عینکې- چشمکې-

چشنه:(چَ-شَ-نه)اسم صفت- واحد- مؤنث- وګوری: چیشن-

چشی:(چَ-شی)اسم- مؤنث- وګوری: چمبیړه-

چشے:(چهٔ-شے)ضمیر- چهٔ شے- څهٔ څیز-

چشے:(چهٔ-شے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم ازغن بوټے-

چښاک:(چښاک)اسم- څښاک- څښنه- چښنه- ګکنه- چیښنه-

چښتن:(چښ-تن)اسم- واحد- مذکر- وګوری: څښتن-

چښتون:(چښ-تون)اسم- واحد- مذکر- وګوری: چوتون-

چښچه:(چښ-چه)اسم- واحد- مؤنث- پرخچه- دړه- توتنې- توتبکے- توتنے- توتنکے-

چښکورے:(چښ-کو-رے)اسم- واحد- مذکر- چوښتے- څوښکورے- چوښکه- څښکورے- چوشکے- څوکه- څخنک- سونت- چانتک- او دا قسم نورو څیزونو هغه برخه چې اَبهٔ تری راتونیږی- کشکورے- سُنت- چوستے کشکول- څوښکے- څوخنک- چښکه-

چښکه:(چښ-که)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: چښکورے-

چښکے:(چښ-کے)اسم- واحد- مذکر- چوسے- ذکر- غیږ- د سړی آلهٔ تناسل- عین- عې-

چښل:(چښل)مصدر متعدی- چیښل- څښل- ګکل- چیښل- چکل- چښل-

چښلے:(چښهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع چښلی- مؤنث چیښلې- وګوری: چښل-

چښن:(چښن)حاصل مصدر- وګوری: چښل-

چښنګ:(چښنګ)حاصل مصدر- وګوری: چښل-

چښنوکے:(چښ-نو-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)چاکل- چښونکے- کوړے- وړوکے مشک- وړوکے زړے- (۲)یو قسم وړه مشکوله-

چښنه:(چښهٔ-نه)حاصل مصدر- وګوری: چښل-

چښوبے:(چښو-بے)اسم- شربت- د څښلو څیز- مشروبه- مشروب-

چښول:(چښه-ول)مصدر متعدی- ابهٔ ورکول- اَبول- پهٔ اَبو مړول- پهٔ اَبو مړوسول- خړوبول- څښول-

چښون:(چښه-ون)حاصل مصدر- وګوری: چښول-

چښونګ:(چښه-ونګ)حاصل مصدر- وګوری: چښول-

چسونه:(چښه-ونه)حاصل مصدر- وګوری: چښول-

چسونکې:(چسون-کې)اسم- واحد- مؤنث- چښونکے- دَ شپنو یا مسافرو وړه مشکوله چې غاړې ته ې اچوی- بټک-

چسونکے:(چسون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چښونکی- مؤنث چښونکې- وګوری: چښل-

چښونکے:(چښه-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری: چښول-

چښوهٔ:(چښه-وهٔ)حاصل مصدر- وګوری: چښول-

چښے:(چهٔ-ښے)کلمهٔ استفهام- څهٔ شے- څهٔ څیز- دَ څهٔ شی مخفف-

چښے:(چَ-ښے)اسم- واحد- مذکر- وړوکے ازغن بوټے چې اَبهٔ ې دَ وینې صفا کولو دَ پاره پکارولے شی- سپل ازغے- سپل اغزے- اغزکے- ازغکے- نباتاتی نوم اسپیریګس ګرسی لِس (ASPARIGUS GRACIIS)-

چغ:(چغ)اسم صوت- (۱)دَ مرمی آواز- (۲)دَ دروازې دَ بندلو آواز-(۳)شور زوږ- غالمغال- (۴)دَ سرهٔ کرو غورو آواز چې پهٔ څهٔ څیز پرېوزی یا پهٔ څه واچولے شی- چش-

چغ:(چغ)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه پرده چې دَ بانس دَ نریو نریو تیلیو نه جوړه شوې وی- او خلق ې وړونو او کړکیو ته اوبزاندوی- چق- چک- کپړ- پکل- پرده- کانے- (۲)غبج- دَ ماشومانو یو قسم لوبه- (۳)اوږد- (۴)دَ مرغیو یو قسم جال (تور)-

چغ:(چغ)اسم صفت- واحد- مذکر- چاق- تېز- جلت- ګړندے- چاغ- چاخ-

چغ:(چغ)اسم- واحد- مذکر- (۱)پهٔ مزی چلېدونکے بادپکے- ببوزے- بادکش- لاسپکے- بادپکے- (۲)هغه خبره چې شر ترې ولاړیږی- جګړه- ټپه-

چغا:(چَ-غا)اسم صوت- چغار- چیغې- کریغې- شور زوږ- غالمغال- چغارې-

چغاته:(چهٔ-غا-ته)اسم- واحد- مؤنث- د لرګی اَس-

چغار:(چَ-غار)اسم صوت- وګوری: چغا-

چغار:(چَ-غار)اسم صفت- واحد- مذکر- وګوری: چغر-

چغاره:(چهٔ-غا-ره)اسم صوت- وګوری: چغا-

چغاغه:(چهٔ-غا-غه)اسم- واحد- مؤنث- یو تُرش او تریو بوټے چې پهٔ دوایی کښې پکارولے شی-

چغال:(چَ-غال)اسم- واحد- مذکر- ګیدړ- شغال- سورلنډے-

چغال غار:(چَ-غال-غار)اسم- واحد- مذکر- دَ ماشومانو یو قسم لوبه-

ټ (ټی-رل)، ښ (ښې-رو-ول)، ږ (پیا-لی)، ۓ (تن-دے) تفصیل د پاره وګوری: تشریحات صفحه ۱

www pukhto net

چغالکے:(چ-غاڵ-کے)اسم- واحد- مذکر- دَ سترګې کُنج چې دَ پوزې خوا ته نژدې وي- چمبکے-

چغالي:(چ-غا-لي)اسم- (۱)تش میدان- خالي میدان- (۲)وچې حرماني- خشک زردالو-

چغالي:(چ-غا-لي)اسم- خحلې- خس خاشاک- ترپرې- لتکه-

چغالي ور:(چ-غا-لي-ور)اسم- واحد- مذکر- دَ باغ وړه دروازګې- د باغ وړه دروازه-

چغانغه:(چ-غان-غه)اسم- مونث- ماما- پوپسه- وطبے- مانانسے- لمونکے- انګریزي وطبے-

چغنغه:(چ-غان-غه)اسم- واحد- مونث- وګورئ چارجول-

چغانک:(چ-غا-نک)اسم- واحد- مذکر- کونکب په څمر ورکوي سال حرسده چې کوک يې ونيسي نو د چغ چغ آواز کوي-

چغانه:(چ-غا-نه)اسم- واحد- مؤنث- سرینده- سارنګي- سیرنده- سرنده- سارنده- سارنګا- دَ موسیقۍ یوه آله- غجکه-

چغانے:(چ-غا-نے)اسم- واحد- مذکر- د زنې ژور او ورننوتے ځاے چې زړه ادیباتو کښې دَ شاعرانو لهٔ خوا بېر ستائیلے شوے دے- د زنې قوتے- زنخدان-

چغاول:(چغ-غا-وُل)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ زنانو دَ غاړې يو قسم کالے (پسول)- (۲)دَ باز، باښې او نور ښکاري مارغانو دَ غاړې بند (غاړکي)-

چغ بغ:(چغ-بغ)اسم صوت- شور زوږ- چغې سورې- چوغ بوغ- غالمغال- چغ بغ-

چغوز:(چغ-غوز)اسم- واحد- مذکر- د ملخ په شان يوه حشره-

چغ پغ:(چغ-پغ)اسم صوت- وګورئ چغ بغ-

چغت:(چ-غت)اسم- واحد- مذکر- مغل-

چغتا:(چغ-تا)اسم- واحد- مذکر- د تیمور بادشاه دَ قبیلې نوم- د مغلو يوه قبیله- چغتائي-

چغتار:(چغ-تار)اسم- واحد- مذکر- وګورئ جلتار-

چغته:(چغ-ته)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم ایلی (میلی)- سائنسي نوم کبهپله اس پي پي (CAPILLA SPP)-

چغتے:(چغ-تے)اسم صفت- واحد- مذکر- جمع چغتي- مؤنث چغتې- دَ چغتا قبیلې غړے- چغتا قبیلې ته منسوب-

چغټ:(چغ-ټ)اسم صفت- واحد- مذکر- چټل- نلولے- نلپاک- خیرن- کثیف-

چغجي:(چغ-جي)اسم- مؤنث- چغچي- چغزي- ګبچي- مغز- زړے- ګېړی- د غوز يا بادام دننه غوړ مغز- چغري-

چغ چغ:(چغ-چغ)اسم صوت- وګورئ چغ چوغ-

چغ چوغ:(چغ-چوغ)اسم صوت- د مرغیو چنارے- شور شغب- غلغله- چغې چغاري- شور شعرب- چغ چم- غل وغونل- غالمغال- غلغله- شور زوږ- شوربګت- چغ پغ- چغ بغ-

چغچي:(چغ-چي)اسم- مؤنث- وګورئ چغجي/چغزي-

چغد:(چ-غد)اسم- واحد- مذکر- چغرو- ګونګ- ګونګے- بوم- بم- الّو- يو قسم مارغهٔ چې دَ شپې الوځي- (م- فارسي)-

چغر:(چ-غر)اسم صفت- واحد- مذکر- بېپنګا- برېښکا- بټ سترګے- کږ سترګے- روند سترګے- چوغر- چپک سترګے- چپے- بټار سترګے- بټا- برګ سترګے- کوبد سترګے- يو سترګے- هغه انسان يا حېوان چې يوه سترګه يې ضائع شوې وي- هغه انسان چې يوه سترګه چپه غړوي- هغه انسان يا حیوان چې دَ سترګو توازن يې په ځاے نهٔ وي-

چغرسترګے:(چ-غر-سټر-ګے)اسم صفت- واحد- مذکر- جمع چغرسترګي- مؤنث چغرسترګې- وګورئ چغر-

چغرکه:(چ-غر-مکه)اسم- مؤنث- يو غرګنے بوټے چې دَ سوزولو دَ پاره پکارولے شي او کوچې بېرې يې هم خوري- چغري-

چغرو:(چغ-رو)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چغد-

چغره:(چ-غه-ره)اسم- واحد- مؤنث- کلکه سترګې ښځه- بې شرمه ښځه-

چغري:(چغ-ري)اسم- مؤنث- (۱)وګورئ چانجي- (۲)وګورئ چغرکه-

چنګک:(چنګ-ګک)اسم- واحد- مذکر- جمع چنګکونه- د مچو په یو ځاې راغونډېدنه- انګک چنګک- الوزل- الووېل- د یو بل د پاسه ناستے- (۲)هغه تېرۀ په لاسو جوړ شوے مهے چې ماهی ګیر یې د مهیانو د غولولو د پاره د ښکار په وخت په کنهه کښې اچوی- وګورئ چنګ ۴-
چنګل:(چَنګ-ګل)اسم- مذکر- څنګل- منګل- نوک- د درنده پنجه- د ښکاری مارغۀ پنجه- د بنیادم پنجه-
چنګل:(چَنګ-ګَل)اسم- واحد- مذکر- (۱)د زمکې هغه ټوټه چې د پینځلسو جریبو سره معادله وی- (۲)منګل- پنجه- نوک-
چنګل بازی:(چَنګ-ګل-با-زی)اسم- مؤنث- چغلبازی- چیولبازی- چیغلبازی- چغلموزی-
چنګن:(چَنګ-ګَن)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ژرندوکے- ژړېدونکے- ژروندوکے- د نری زړۀ خاوند- بې زړۀ- پرپوک- هغه څوک چې ژر په ژړا کیږی- (۲)تړن- تړن- (۲) بخیل- کنجوس- شوم-
چنګڼ:(چنګ-ګڼ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)خانه بدوش- چمکړے- (۲)کمینه- کم ذات- چواړے- شاڅے تاشے- څشکے- کم اصل- رذیل- جمع چنګړیان-
چنګو:(چَنګ-ګو)اسم- واحد- مذکر- یو قسم صحرائی مارغۀ-
چنګوټے:(چنګ-ګو-ټے)اسم- واحد- مذکر- (۱)چنګوړے- (۲)د څناور بچے- (۳)وړوکے ماشوم- کمکے ماشوم- ورکوټے ماشوم- وړکے ماشوم- کوچنے- کوچنوټے- ککوټے- کاکے- ککے- جمع چنګوټی-
چنګورے:(چنګ-ګو-رے)اسم- مذکر- چنګوړے- د بم ټوټه یا پارچه- ترټتے- د تیږې ټوټه- د ډبرې ټوټه- جمع چنګوری-
چنګوړ:(چَنګ-ګوړ)اسم- واحد- مذکر- د ماشومانو یو قسم لوبه- چندری- چیتی- موشی- چیدری- چندری- چیندرو-
چنګوړے:(چنګ-ګو-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ترټتے- د ډبرې ټوټه- د کانې یا تیږې ټوټه- د بم ټوټه یا پارچه- (۲)د شولو ګېډی- د شولو ګټی- د شولو ګېټی- (۲)وګورئ چنګوټے- جمع چنګوړی-
چنګول:(چنګ-ګه-ول)مصدر متعدی- وګورئ چینګول-
چنګولی:(چنګ-ګو-لی)اسم- مؤنث- د غنمو ګېډی- د غنمو ګترے- د غنمو ستړے-
چنګونکے:(چنګ-ګه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چنګونکی- مؤنث چنګونکې- وګورئ چنګول-
چنګ ونګ:(چَنګ-وَنګ)صفت- (۱)تتر بتر- تس نس- نوستی- خوارۀ وارۀ- تالا ترغه-
چنګونه:(چنګ-ګ-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ چنګول-
چنګ ونے:(چنګ-و-نے)اسم مرکب- (۱)چنګ د یو ساز نوم دے چې په خلۀ باندې د شپېلۍ په شان وهلے کیږی- اونے شپېلۍ ته وائی- (۲)د پنجې او منګوټې په معنو کښې هم استعمالیږی-
چنګیتاز:(چنګ-ګی-تاز)اسم- مذکر- (۱)کوشش- کوښش- لپ ټپ- (۲)د ملخ غندې یوه حشره چې د ونو ښاخونو پورې نښتې وی او چز چز کوی-
چنګېدل:(چنګ-ګې-دَل)مصدر لازم- ترنګېدل- ټنګېدل- د مات لوښی نه آواز وتل- چینګېدل- چینګ چینګ کول- (۲)وګورئ چینګېدل-
چنګی:(چنګ-ګی)اسم- واحد- مؤنث- چندری- د ماشومانو جینکو یوه لوبه- چیندرو
چنګی:(چنګ-ګی)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم سپېره وړه چرچنه- یو قسم وړه مرغۍ-
چنګے:(چَنګ-ګے)اسم صفت- واحد- مذکر- چغر- بېنګے- بېنګا- کوږ سترګے- چنګر سترګے- چنګر سترګے- چغر سترګے-
چنګے:(چَنګ-ګے)اسم- واحد- مذکر- ټېکس- محصول- تلنګ- چونګ- چونګے- لپه- هغه رقم یا د یو جنس برخه چې اخستونکے یې ورکړی- هغه بې پېسو د خوراک څیز چې دوکاندار یې ماشوم ته د سودا اخستو نه پس ورکوی- جمع چُنګی-
چنګے:(چنګ-ګے)اسم- واحد- مذکر- تیز- تیز- (۱)کوز- (۲)د تیز اواز-
چنوبه:(چ-نو-به)اسم- مؤنث- هغه ځاې چرته چې ډېرې چینې وی- چشمه سار- جمع چنوبې-
چنوسکے:(چ-نوس-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- بخیل- کنجوس- شوم-
چنوغزه:(چ-نوغ-زه)اسم- واحد- مؤنث- مچوغنه- مچلوغزه- مچنوغزه- مچوغنه- بشنوغزه- مچوغنده- جمع چنوغزې-
چنوسکے:(چ-نوس-کے)اسم- د چنو د اوړو غورو او مالګې مرچکی نه جوړ یو ترسکون خوراک-
چنه:(چ-نه)اسم- واحد- مؤنث- د کور یا د کوټې د دېوال پېړنے اړخ- د دېوال یو اړخ- مورګه- رپ- (۲)امداد- مرسته- (۲)د کلونړی په ترګه چا سره بنۀ ژوند تېرونه- (۴)چینه- چشمه- (۵)ښه- جمع چنې-
چنه:(چ-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د غۀ څیز د اخستو په وخت د اخستونکی هغه څیزې چې خرڅونکی ته یې د نرخ د کمولو د پاره کوی- (۲)ورکړه راکړه- قرص پور- جمع چنې-
چنه:(چِنه)اسم- واحد- مؤنث- ژامه جامه- زامه- زومه- د خلې لاندنۍ ژامه- ژامه- جمع چنې-
چنیارے:(چن-یا-رے)اسم صوت- چینیارے- نرے او په یو مخ آراز-

چني:(چَ-ني)اسم- مؤنث- شبنم- سپینه پرخه- هغه پرخه چي دَ ژمي یا منی پهٔ یخني کښي پهٔ زمکه او پهٔ ونو پریوځي-

چنے:(چهٔ-نے)اسم- واحد- مذکر- هغه آس چي دري رنګه لري- سور سپین بخن اس- سور سپین عتن اس-

چنے:(چِ-نے)اسم- واحد- مذکر- تېوتې- کاسه- کونډي-

چن:(چَن)اسم- مذکر- (۱) ګوږ- للون- ګوړ- خپشاوه- (۲)هغه واړهٔ لرګی خس او کَیان وغیره چي دَ تیرونو دَ پاسه اچولے کیږي- (۳)پومبه پهٔ نداف وهمه- (۴)انتخاب- چوڼ- چاڼ شوے- (۵) پاک- صفا- صفا سوتره- صاف- (۶)فلټرونه- (۷)بې خچه کومه- بې غشه کونه- (۸)لتهون- کېږنه- (۹)دَ جوارو دَ فصل کمزورے بوټے-

چَن:(چَن)اسم- واحد- مذکر- سوړن- غړغوړ- معمولي شور- لږ فریاد- چوڼ-

چنا:(چَ-نا)اسم صوت- چنار- چنارے- چاڼ چوڼ- دَ مرغیو کړ اوازونه-

چناخه:(چَ-نا-خه)اسم- واحد- مؤنث/مذکر دَ هډوکو درد- دَ اندامونو درد- دَ جوړونو درد- دَ بندونو درد- روماټېزم-

چنار:(چَ-نار)اسم صوت- وګورئ چنا-

چناسک:(چَ-نا-سک)اسم صفت- واحد- مذکر- چنیاسن- چرښن- بلسي شوے- زنګي- چناسن- هغه څهٔ چي پوپنګ او چنلسي يې کړي وي-

چناسکه:(چَ-ناس-که)اسم- مؤنث/مذکر- یو قسم بوټے چي ګل يې دَ بنفشي دَ ګل دَ رنګ پهٔ شان وي- یو قسم واښهٔ چي نري وړوکي وړوکي پاڼي لري او شین ګل کوي- دا ګل دَ سپرلي خاصه نښه ده-

چناسکه:(چ-ناس-که)اسم- مؤنث- چپلسه- چنلش- چنوسی- چناشي- چنیاشی- پوپنګ- سپین مواد چي پهٔ پسماندو یا پاتې شونو خوړو پلندي دَ څهٔ وخت تېرېدو نه پس پیدا کیږي- دَ سخا کېدو عمل- جمع چناسکي-

چناسکے:(چَ-ناس-کے)اسم- مذکر- وګورئ چناسکه ۱-

چناسه:(چَ-نا-سه)اسم- مؤنث- وګورئ چناسکه- جمع چناسي-

چناسي:(چ-نا-سي)اسم- مذکر- چناشي- چناسکه-

چناش:(چ-ناش)اسم- مذکر- وګورئ چناسکه-

چناشه:(چَ-نا-شه)اسم- مؤنث- وګورئ چناسکه-

چناشي:(چَ-نا-شي)اسم- واحد/جمع- مذکر- (۱)بوګرے- کوګرے- ککړے- کروپے- (۲)چناسکه-

چن چن:(چن-چن)اسم صوت- د چنچې- د چرچنې آواز- دَ مرغی آواز-

چن چن:(چَن-چن)اسم- واحد- مذکر- (۱)چرچن- چنچړک- یو قسم مرغی- کورنۍ مرغی- د چرچنې مذکر- (۲)پردنګې-

چن چناکه:(چن-چ-نا-که)اسم- مؤنث- مرغی-

چنچنګ:(چن-چ-نګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)ترغوړ- یوه مرغی چي توره عاږه لري- (۲)دَ چنچنې مذکر- (۳)سپک دسته سرے- تپ تپه او ماندہ سرے-

چنچنه:(چن-چنه)اسم- مؤنث- چرچیه- چنچنه- چونچنه- چوغکه- یوه مرغی چي زیاتره پهٔ کورونو کښي جالې جوړوي-

چن چنه:(چن-چنه)اسم- مؤنث- دخالي ورځ- اول- دَ هفتې ورځ-

چن چنے:(چن-چنے)اسم- واحد- مذکر- شنشنے- دَ ماشومانو دَ لوبو یو څیز- جمع چن چني-

چنغوزی:(چن-غو-زی)اسم- جمع- مذکر- چلغوزي- چنغوزي- دَ نباتاتي نوم دَ پاره وګورئ چلغوزے-

چنک:(چ-نک)اسم- مذکر- خل- بربښنا-

چنکاڑ:(چن-کاڑ)اسم- مذکر- چړکاڑ- پهٔ زمکه دَ اُبو تري پونه نښتنه- دَ اُبو بوڑ- اُبهٔ پروهنه- چرقاڑ- اوباشي- زمکه اوباشي کونه- دَ اُبو ترمکه- دَ اُبو ترمکیا کونه-

چنکارول:(چن-کا-رول)مصدر متعدي- اوباشي کول- دَ اُبو پرول- چنکاڑ کول- چرقاڑ کول- اُبهٔ ترمکیا کول- اُبهٔ ترمکه کول-

چنکارون:(چن-کا-رون)حاصل مصدر- وګورئ چنکارول-

چنکاروونه:(چن-کا-رو-ونه)حاصل مصدر- وګورئ چنکارول-

چنکاروکے:(چن-کا-رو-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چنکاروکي- مؤنث چنکارونکي- وګورئ چنکارول-

چنکاروهٔ:(چن-کا-رو-رهٔ)حاصل مصدر- وګورئ چنکارول-

چنکارېدل:(چن-کا-رې-دل)مصدر لازم- چرکارېدل- چرقارېدل- اُبهٔ ترمیا کېدل- اُبهٔ ترمه کېدل- اُبهٔ پرخه کېدل- اُبهٔ شیندل- اوباشي کېدل- اُبهٔ پرول کېدل- اُبهٔ پهٔ زمکه پونه کېدل-

چنکارېدن:(چن-کا-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ چنکارېدل-

چنکارېدنګ:(چن-کا-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چنکارېدل

چنکارېدنه:(چن-کا-رې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ چنکارېدل-

چنکارېدونکے:(چن-کا-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چنکارېدونکي- مؤنث چنکارېدونکې- وګورئ چنکارېدل-

چنکارېدهٔ:(چن-کا-رې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ چنکارېدل-

چنکېدونکے:(چن-کې-دون-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- آب دار- پرتېدونکے- خلېدونکے- جمع چنکېدونکي- مؤنث چنکېدونکې-

چنل:(چ-نل)مصدر متعدي- (۱)چونل- چن کول- صافول- پاکول- غلبېلول- لهٔ غلبېل نه تېرول- (۲)نولول- سره کول- جمع کول-

چنول:(چ-نه-ول)مصدر متعدي- (۱)ګوړول- ګوړ کول- خپشاوه کول- (۲)پاکول- صفا کول- چن کول- چونل- غلبېلول- چاڼول- (۳)مالوچ پسیت کول- (۴)چوڼ کول- چاڼ کول- انتخابول- انتخاب کول-

چنون:(چ-نه-ون)حاصل مصدر- وګورئ چنول-

چنونکے:(چ-نه-ون-کے)اسم- واحد- مذکر- غلبېل- چاڼ- چي وړهٔ یا بل مېده څیز تري چنېدے شي-

چنونګ:(چ-نه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چنول-

چنونه:(چ-نه-ونه)حاصل مصدر- وګورئ چنول-

چنونے:(چ-نو-نے)اسم- واحد- مذکر- (۱)پرویزے- چنورنے- (۲)چاڼ کونے-

کړ (ڼی-رل)، ګ (ني-ر-ول)، ګی (پیا-لی)، ے (تن-دے) تفصیل دَ پاره وګورئ: تشریحات صفحه ۱

صفا کونے- پاکوونے- چن کونے- غلبلونے- صفا کونکے-

چېونکے[چ-ن-وون-کے]اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چېونکي- مؤنث چېونکې- وګورئ چېول-

چېوونے[چ-نه-وو-نے]اسم- واحد- مذکر- چنونے- دَ چېولو آله- چاڼ-

چېوه[چ-نه-وه]حاصل مصدر- وګورئ چېول-

چنه[چ-نه]اسم- مؤنث- دَ دالو یو قسم چې دَ انسان دَ خوراک نه علاوه اسونو ته هم ورکولے شي-

چهه[چه-نه]اسم- مؤنث- پنه- موچه-

چنهار[چن-هار]اسم صوت- دَ مارغانو اوازونه-

چنیا[چن-یا]اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ څېلي هغه پټه چې څېلي پرې پنې سره مضبوطولے شي- دَ ګوډيکي نه تر بکسوې پورې دَ څېلي هغه حصه چې څېلي پرې پنې پورې کلکولے شي- (۲)پوکړې- ویلی شوې وازده-

چنیا[چن-یا]اسم- واحد- مؤنث- یو بوټے چې دَ پاڼو نه ئې شربت جوړولے شي- بنفشا- نباتاتي نوم وائیلا اېس پي پي- (VIOLA SPP)- (۲)دَ بنفشې رنګ- چونیاڼي رنګ- چونیا- یو قسم رنګ دے چې دَ شین او قرمزي رنګ دَ ترکیب څخه لاس ته راځي او دَ دوئیمې درجې دَ اصلي رنګونو سره ګڼلے کېږي-

چنیاتوب[چن-یا-توب]اسم- مذکر- دَ بنفشي رنګ- چونیاڼي رنګ درلودنه-

چنیاسن[چن-یا-سن]اسم صفت- واحد- مذکر- هغه څۀ چې چنیاسي ئې کړي ري- چنوسے- چیاسي لرونکے-

چنیاسه[چن-یا-سه]اسم- مؤنث- (۱)یو قسم نرۍ او چینجره کېږه- (۲)وګورئ چهاسکه-

چنیاشے[چن-یا-شے]اسم صفت- واحد- مذکر- چنېشے- چخے- چیخن- خچن- په یو څیز چې موده راورۍ او شۀ شۀ نرۍ نرۍ جالکۍ شان پرې راپیدا شي- خوند او رنګ ئې بدل شي-

چنیاکی[چ-نیا-کي]اسم- مؤنث- تونکے ګل- چنکے-

چنېدل[چ-نې-دل]مصدر لازم- (۱) کون کېدل- کوڼېدل- (۲)پاکېدل- چونېدل- صفا کېدل- غلبلېدل- (۳)مالوچ ونیوت کېدل- (۴)انتخاب کېدل- انتخابېدل- (۵)چاڼېدل- چاڼ کېدل- چونېدل- (۶)شیندل کېدل- پاشل کېدل- چون کېدل- (۷)دَ چنچنو اوازونه کول- دَ مرغیو چنهار کول- چن چن کول-

چنېسی[چ-نې-سي]اسم- جمع- مذکر- نرۍ نرۍ چینجي چې غوښه یا بل داسي څیز ئې دَ توړوالي له کبله کوي-

چنېدلے[چ-نې-د-لے]اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع چنېدلي- مؤنث چنېدلې- وګورئ چنېدل-

چنېدن[چ-نې-دن]حاصل مصدر- وګورئ چنېدل-

چنېدنګ[چ-نې-دنګ]حاصل مصدر- وګورئ چنېدل-

چنېدنه[چ-نې-د-نه]حاصل مصدر- وګورئ چنېدل-

چنېدونکے[چ-نې-دون-کے]اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چنېدونکي- مؤنث چنېدونکې- وګورئ چنېدل-

چنېښن[چ-نې-ښن]اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)زنګ زن- زنګي- چوپسن- چیاسن- چنیاشے-

چنېښے[چ-نې-ښے]اسم صفت- وګورئ چنیاشے-

چنی[چ-نی]اسم- مؤنث- چونی- دَ اسپني پاټه چې دَ لرګي ماټولو دَ پاره بکارولے کېږي-

چنی[چ-نی]اسم- واحد- مؤنث- چنیا- دَ څېلي هغه وړه پټه چې دَ پښدې نه چاپېرولے شي-

چنے[چ-نے]اسم- واحد- مذکر- طالب- (۱)هغه ملک چې په جومات کښې دَ دیني سبق زده کولو دَ پاره وسېږي او دَ جومات خدمت هم کوي- (۲)هغه ملک چې دَ طالبانو دَ پاره دَ کورونو نه روټۍ راغنډوي-

چنے[چ-نے]اسم- مذکر- (۱)دَ څېلي وندنے- دَ پنو غړوندے- دَ څېلي غړوندے- (۲)هغه اسپنه چې نورې اسپني پرې پرېکوي یا سورۍ کوي-

چنے[چ-نے]اسم- مذکر- (۱)نرۍ ګوټېزه وړه سورۍ- (۲)دَ چال ووړکے بوکړے-

چو[چو]اسم- واحد- مذکر- (۱) چاود- چود- چاک- درز- (۲)دَ دوو غرونو تر مینځه تنګه لار- (۳)دَ نهر یا لښتي په پوله کښې درز راتلنه- (۴)ابندمز- ابسارتیا- کړرالے-

چو[چو]اسم صوت- (۱)دم چوف کونه- (۲) دَ اس یا غواګانو دَ روانولو آواز- دَ اوښ دَ روانولو آواز- دَ اوښ دَ کښلولو آواز-

چو[چو]حرف جار- (۱)خو- لیکن- مګر- (۲)څو- څومره-

چوا[چ-وا]اسم صفت- واحد- مذکر- ووړکے سر لرونکے- دَ ووړکي سر خاوند- بریټے-

چواتے[چ-وا-تے]اسم- واحد- مذکر- کنج- ګټ- دَ کمرې یا دَ کلي یو ګټ-

چوار[چ-وار]اسم صفت- واحد- مذکر- للونه- زوړند- اوېزان- ځوړند- کوږے- ځړېدلے-

چوارول[چ-وا-رول]مصدر متعدي- ځړول- زوړندول- اوېزاندول- کوږې کول- ځوړندول-

چوارونکے[چ-وا-رون-کے]اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چوارونکي- مؤنث چوارونکې- وګورئ چوارول-

چوارونه[چ-وا-رو-نه]حاصل مصدر- وګورئ چوارول-

چواره[چ-وا-ره]اسم- مؤنث- خرما- وچه کجوره- یو قسم میوه- دَ کجورې په شان میوه- جمع چوارې- نباتاتي نوم فونېنکس ډېکټېلي فېرا PHOENIX DACTYLIFERA-

چواری[چو-وا-ري]اسم- واحد- مؤنث- هغه سورۍ شوې کجوره چې په تار کښې اچولے کېږي او دَ ګټلو دَ پاره دَ ماشوم په غاړه کښې ځوړندول کېږي-

www.pukhto.net

چوارېدل:(چْـوا-رې-دَل)مصدرِ لازم- زورندېدل- اوېزاندېدل- ځوړندېدل- ځړېدل- اوېزانېدل- کوږې کېدل- للېدل-

چوارېدن:(چْـوا-رې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ چوارېدل-

چوارېدنګ:(چْـوا-رې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ چوارېدل-

چوارېدنه:(چْـوا-رې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ چوارېدل-

چوارېدونکے:(چْـوا-رې-دُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع چوارېدونکي- مؤنث چوارېدونکې- وګورئ چوارېدل-

چوارېدهٔ:(چْـوا-رې-دهٔ)حاصلِ مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ چوارېدل-

چوارے:(چْـوا-رے)اسم صفت- (۱)سخا- ګنده- ناولے- خوسا- (۲)دْ تحقير کلمه چې دْ يو بنده بدرنګي يا توروالے ستائيلے کيږي- تورمخے- (۳)خاکروب- مُسلی- چاروکښ-

چوباره:(چو-با-ره)اسم- واحد- مؤنث- بالاخانه- دْ کور لوړه کوټه- دْ کوټې دْ پاسه بله کوټه-

چوب چيني:(چوب-چي-ني)اسم- چيني بوټے- يو قسم دوائي-

چوبدار:(چوب-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)حاضرباش- اردلی- څوکيدار- (۲)کلهٔ دار- دْ ګېو دْ رمې څرونکے- (۳)ګرز لرونکے- ګرزدار- جمع چوبداران-

چوبداره:(چوب-دا-ره)اسم صفت- واحد- مؤنث- پيوېيوانه- کوټک ماره- تيارخوره- چوب ګرندی- هغه ښځه چې پهٔ شاهي محل کښې دننه خبر وړي راوړي-

چوبر:(چو-بر)اسم صفت- واحد- مذکر- سمسارے- غټ کټه- دنګ لوړ- اخور- چاق- غټ پټه- هغه څوک چې پهٔ وجود بهٔ غټ پټ او دنګ لوړ وي-

چوبره:(چوب-ره)اسم صفت- واحد- مؤنث- غټه پټه او څربه جيني-

چوبړن:(چوب-ړن)صفت- مذکر- (۱)لوچک- پست- بداخلاقه- (۲)جاهل- ذليل-

چوبندي:(چو-بن-دي)اسم- مؤنث- دْ کوټې يا منهو دْ ديوالونو او غټو بشونو تر مينځ لوړه برخه-

چوبول:(چو-به-ول)مصدرِ متعدي- وګورئ سوځول-

چوپ:(چوپ)اسم صفت- واحد- مذکر- غلے- خاموش- چپ-

چوپ:(چوپ)اسم- واحد- مذکر- چوب- لرګے- کوټک- (فارسي)-

چوپاتکه:(چو-پا-تَه-که)اسم- مؤنث- کټولے- دْ اينځرانو دْ راټولو آله-

چوپار:(چو-پار)اسم- واحد- مذکر- (۱)چوپال- چوپاړ- څېره- څېرې- ساله- دوبګوړے- منهو- (۲)دْ غنيمدر ځاۍ- جمع چوپارونه-

چوپاړ:(چو-پاړ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چوپار-

چوپال:(چو-پال)اسم- واحد- مذکر- چوپار- وګورئ چوپار- جمع چوپالونه-

چوپان:(چو-پان)اسم- واحد- مذکر- شپون- ګډبه- (فارسي)-

چوپان ګرمک:(چو-پان-ګر-مک)اسم- واحد- مذکر- يو قسم ځنګلي بوټے چې نرمه تنه او سپين ګل لري-

چوپتره:(چو-پت-ره)اسم- مؤنث- يو بوټے چې دْ شفتالو پهٔ شان پاڼې لري او دْ ساګ پهٔ شان پخولے هم شي-

چوپتيا:(چوپ-تيا)اسم- واحد- مؤنث- چوپوالے- چپوالے- غلے والے- غلے توب- چوپتوب- چپوالے-

چوپته:(چو-پت-ته)اسم- مؤنث- هغه لرګے چې دْ ديوال دْ کلکولو دْ پاره پهٔ مره رده (پخښه) او دْ ديوال پهٔ سر کښې لګولے کيږي- (افغانستان)-

چوپړ:(چو-پړ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ابلک- برګ- ابلق- دوه رنګے- (۲)راچاپېر- چاپېر-

چوپړکټ:(چو-پړ-کټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)پالنګي کټ- ښائسته کټ- (۲)دْ زنانه دْ کفن سره ښائسته شال چې پهٔ مړينې ئې يوې ښځې له دْ پلار کورني کوي-

چوپړے:(چوپ-پړے)اسم- (۱) چکلے- پړونے- پورقه- پورقع- پوکره- (۲)وګورئ چوپړ-

چوپړ:(چو-پړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)دْ شطرنج پهٔ شان يو قسم لوبه- دْ شطرنج پياده- ګونټه- (۲)خدمتګار- چوپړے- خادم- (۳)زحمت- کار- نوکري- خدمت-

چوپړن:(چوپ-ړن)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه څوک چې سترګې ئې اَبهٔ او چخې کوي- دْ چوخړو سترګو خاوند- چخن- زوبلن- چوخړن- چخړن- چړچے-

چوپړه:(چو-په-ړه)اسم- مؤنث- زړه پټه- زړه موږنه- زړه ماچنه- چپړه- زړه چپتره-

چوپړين:(چوپ-ړين)اسم صفت- شوړ- چوړن- خوړين سترګے- چکان- چوړنې سترګې لرونکے-

چوپړي:(چوپ-ړي)اسم- مؤنث- ابرې- چوپړي- شړومبې-

چوپړي:(چوپ-ړي)اسم- واحد بجمع- مؤنث- جرمېړي- جونګړه- ځېر- کوېله- کوېږي- ځېږي- خونه- خونکۍ- کوټځه- ځېره- خاله- کېږدي-

چوپړے:(چوپ-ړے)اسم- واحد- مذکر- نوکر- خادم- خدمتګار- روزدار- دورېه- چوپړ- چوکر- ترېه-

چوپل:(چُو-پَل)مصدرِ متعدي- ژول- رودل- رول- ژوول- پهٔ شونډو يو څيز داسې راکښل چې پوټکے ئې پاتې شي او دْ مينځ رس ترې راکاږلے شي- چوپول- چپول- څېښل- شېپل- چوول-

چوپلے:(چُو-پَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع چوپلي- مؤنث چوپلې- وګورئ چوپل-

چوپن:(چو-پن)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ چوپړن-

چوپنه:(چُو-پَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ چوپل-

چوپنه:(چُو-پَنه)اسم- مؤنث- دْ ماشومانو دْ چوپلو څيز-

ئ: (ښې-رل)، ئ: (ښي-ره-ول)، ئ: (يپا-لي)، ې: (ښن-ږې) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

چوپس (چو-پهـ-س) اسم- مونث- ابخښ- بزني-

چوپنۍ (چو-پهـ-نۍ) اسم- واحد- مذکر- پوچکه- د صابون پوچک یا د کوټو وړه ټوټه- د صابن وړه حصه- لږه حصه-

چوپنۍ (چو-پهـ-نۍ) اسم- واحد جمع- مونث- خوږې کولی- چاکښت-

چوپنۍ (چو-پهـ-نۍ) اسم- واحد- مذکر- هغه لرګي یا پوست ګیز چې د ماشومانو د غابونو په کېدلو کښې مرسته کوي-

چوپول (چو-پهـ-ول) مصدر متعدي- وګورئ چپول-

چوپون (چو-پهـ-ون) حاصل مصدر- وګورئ چوپول-

چوپونکی (چو-پهـ-وون-کی) اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چوپونکي- مونث چوپونکې- وګورئ چوپول-

چوپونګ (چو-پهـ-ونګ) حاصل مصدر- وګورئ چوپول-

چوپونه (چو-پهـ-ونه) حاصل مصدر- وګورئ چوپول-

چوپوۀ (چو-پهـ-وۀ) حاصل مصدر- وګورئ چوپول-

چوپه (چو-په) اسم- مونث- خروبونه- سپرابونه-

چوپه (چو-په) اسم- مونث- کوپه- کپک- کپئ- ګلور ګتې-

چوپه (چو-په) اسم- مونث- (۱) قافله- کاروان- (۲) پوچه- د حنو پلمنو- د حنو لیږ- پوچه-

چوپه چوپیا (چو-پهـ-چوپ-پیا) اسم مرکب- مونث- قلاره قلاري- خاموشي- قلاره قلارې- چوپه چوپتیا- ارامه ارامتیا- چپه چپیا- شومه دم-

چوپېدل (چو-پې-دل) مصدر لازم- ارامېدل- کرارېدل- قلارېدل- غلی کېدل- خاموشه کېدل- چپ کېدل-

چوپېدن (چو-پې-دن) حاصل مصدر- وګورئ چوپېدل-

چوپېدنګ (چو-پې-دنګ) حاصل مصدر- وګورئ چوپېدل-

چوپېدنه (چو-پې-دنه) حاصل مصدر- وګورئ چوپېدل-

چوپېدونکی (چو-پې-دون-کی) اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چوپېدونکي- مونث چوپېدونکې- وګورئ چوپېدل-

چوپېدۀ (چو-پې-دۀ) حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ چوپېدل-

چوپېر (چو-پېر) صفت- وګورئ چاپېر- (عامیانه قرأت)-

چوت (چوت) اسم- مونث- چیت- د ښځې پټ اندام- د ښځې عضو خاص- چوډ-

چوت (چوت) صفت- (۱) وچت- دنګ- لوړ- (۲) تېز- ځلاکه- مټې- رندې- چالاک-

چوتار (چو-تار) اسم- واحد- مذکر- (۱) یو قسم ټوکي یا لټه چې تنسته بوده يې د ځلورو ځلورو تارونو وي- درسوتي اعلی قسم صنا کپړه- خامتا شوی- د یو پحوانی سپین ټوکی نوم- سپین او ښائسته ټوکی- چارسوتي کپړه- (۲) یو قسم ساز- (۳) وړه جبره-

چوتاله (چو-تا-له) اسم- مونث- د دولسو ماترو یو تال-

چوتانکی (چو-تانګ-کی) اسم- مونث- د اوبن د کټې له زیرو جوړه کړې- د اوښ د زین د زیرو کړی-

چوتانی (چو-تا-نی) اسم- مونث- د کټ لنګه-

چوتره (چوت-ره) اسم- مونث- (۱) صوفه- صوپه- پنه- پېړه- د ناستې ځای- دوکلچه- (۲) هواره او وړه موږه- جمع چوترې-

چوتکی (چوت-کی) اسم- واحد- مذکر- ګټ-

چوتکی (چوت-کی) اسم صفت- واحد- مذکر- پوچ- بې حیا- بې پردې- بې ادبه- ناالئق- نامناسب- بې ننګه-

چوتیا (چوت-یا) اسم صفت- واحد- مذکر- (۱) مفعول- ګانډو- (۲) بې غېرته- (۳) بې اعتباره- ناکاره-

چوتیاتوب (چوت-یا-توب) اسم- مذکر- (۱) ناکاره توب- ناکاره والی- بې اعتباري- بې اتباري- (۲) ګانډوتوب- مفعول توب- مفعول والی- (۳) بې غېرتي-

چوټی (چو-ټی) اسم- واحد- مذکر- (۱) لنګ- لنکوټی- ووړکی لنګ- نیکر- لنډکی لنګ- لنډ پرتوګ- (۲) هغه رسۍ چې د اوښ بار پرې تړلی شي- (۳) چنی- (۴) ټراکی-

چوټ (چوټ) اسم- واحد- مذکر- (۱) تکلیف- (۲) ضربه- حمله- (۳) عشق- د مینې صدمه- (۴) ګوزار- غزار- درز- (۵) ټپله- دیکه- ټکره- (۶) حادثه- افت- (۷) باری- وار- نمبر- (۸) فکر- اندېښنه- اند- خیال- (۹) تاوان- (۱۰) اعتراض- سخ- (۱۱) چیټ- یو قسم کپړه-

چوټ- چوټ اسم صفت- (۱) بېخي- بالکل- قطعي- کاني- پوره- (۲) وړوکی-

چوټ (چوټ) اسم- دَ یو شي زیات استعمالونکی یا پرې پوهېدونکی-

چوټ انداز (چوټ-ان-داز) اسم مرکب- (۱) اندازه- اټکل- قیاس- تخمین- (۲) صفت اټکلی- توکلی- چوټ اندازه-

چوټ اندازه (چوټ-ان-دا-زه) صفت- وګورئ چوټ انداز-

چوټکه (چو-ټه-که) اسم- واحد- مونث- چونټه- کوټکی- کمټې- چوټی- ځنې- کونټی کړی وښتنه- چوټی- ځری- چارخولک- بوټی- بودی- سونکه- خونډی- قرقره- ګوبکه- پیاده- جبفه- چحه- شمله- پټکی- جمع چوټکې-

چوټول (چو-ټه-ول) مصدر متعدي- (۱) چوټ کول- وړل- تښتول- (۲) غلا کول- پټول- په غلا وړل- (۳) باروول- درنول-

چوټون (چو-ټه-ون) حاصل مصدر- وګورئ چوټول-

چوټونکی (چو-ټه-وون-کی) اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چوټونکي- مونث چوټونکې- وګورئ چوټول-

چوټونګ (چو-ټه-ونګ) حاصل مصدر- وګورئ چوټول-

چوټونه (چو-ټه-ونه) حاصل مصدر- وګورئ چوټول-

چوټوۀ (چو-ټه-وۀ) حاصل مصدر- وګورئ چوټول-

چوټه (چو-ټه) اسم- واحد- مونث- (۱) چاره- علاج- غم خورنه- چېټه-

www.pukhto.net

(۲)پرله پسې کار کونه- پهٔ یو مخ کار کونه-
چوټه:(چ-وهٔ-ټه)اسم- واحد- مؤنث- ځیلی- کیږی- چیلی-
چوټې:(چو-ټې)اسم- مؤنث- ستوکے- څېټې- چوټې- دٔ ښځې دٔ سر وېښتهٔ چې پښې او کس اړخ ته یې راخوارهٔ کړی وی- یعنی کمځی شوی نهٔ وی- د ښځې دٔ سر وړوکې وېښتهٔ-
چوټی:(چو-ټی)اسم- واحد- مؤنث- رخصتی- تعطیل- هغه ورځ چې د معمول کار پکښې نهٔ کیږی-
چوټې:(چو-ټې)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ځیلی- کیږی- چیلې- (۲)لونګ- (۲)چوښې-
چوټېدل:(چو-ټې-دل)مصدر لازم- پوره کېدل- پهٔ مقابله یا جنګ کښې برابربدل- مخے کېدل- (۲)ورلے کېدل- تښتولے کېدل- خ(۲)پاربدل- درسدل-
چوټېدن:(چو-ټې-دن)حاصل مصدر- وګوری چوټېدل-
چوټېدنګ:(چو-ټې-دنګ)حاصل مصدر- وګوری چوټېدل-
چوټېدنه:(چو-ټې-دنه)حاصل مصدر- وګوری چوټېدل-
چوټېدونکے:(چو-ټې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چوټېدونکی- مؤنث چوټېدونکې- وګوری چوټېدل-
چوټېدهٔ:(چو-ټې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګوری چوټېدل-
چوټی:(چو-ټی)اسم- مؤنث- بوتی- څېری- ځنګه- چارخول- تاج-
چوجکی:(چو-ج-کی)اسم- مؤنث- وګوری چجکی-
چوجی:(چو-جی)اسم- مؤنث- وګوری چوچی ۲-
چوچ:(چوچ)اسم- مذکر- (۱)رسم- رواج- عادت- دود- دستور- (۲)چوچنے-
چوچارے:(چو-چا-رے)اسم- واحد- مذکر- چچارے- ټاپو- جزیره- دٔ زمکې هغه ټوټه چې ګېر چاپېره ترې اُبهٔ وی-
چوچ ستړکے:(چوچ-ستړ-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه سړے چې سترګې یې چوچی وی-
چوچک:(چو-چک)اسم- واحد- مذکر- چوچه- چرګوټے- چرګوړے- چڼوټے- ورانکارے ملک- شېطان ملک- شوخ ملک-
چوچ نهل:(چوچ-نهٔ-هل)مصدر- د مرز تښتېدل او جنګ پرېښودل-
چوچنے:(چو-چهٔ-نے)اسم- واحد- مذکر- وګوری چوخنے-
چوچنے:(چو-چهٔ-نے)اسم- واحد- مذکر- ارمنډه-
چوچو:(چو-چو)اسم- دٔ ماشومانو پهٔ ژبه مرغی یا ووړی ته ونیلے شی-
چوچورے:(چو-چو-رے)اسم- د مرغیو او چرګانو کنه- کونے- شیبے- شونے-
چوچول:(چو-چه-ول)مصدرِ متعدی- مرزان یو بل ته دٔ جنګ دٔ پاره مخامخ کول-
چوچون:(چو-چه-ون)حاصل مصدر- وګوری چوچول-
چوچونکے:(چو-چه-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چوچونکی- مؤنث چوچونکې- وګوری چوچول-
چوچونګ:(چو-چه-ونګ)حاصل مصدر- وګوری چوچول-
چوچونه:(چو-چه-ونه)حاصل مصدر- وګوری چوچول-
چوچوے:(چو-چو-ے)اسم- واحد- مذکر- چوچک- چرګوټے- چرګوړے-
چوچی:(چو-چی)اسم- واحد- مؤنث- غرځنے چرګ- د غرهٔ چرګ- صحرائے چرګ- صحرائی چرګ- غرنے چرګ- ځنګلی چرګ- کرمک- کورمنګ- قرقاول-
چوچی:(چو-چی)اسم- واحد- مؤنث- ورکوټې جاروګی چې دٔ چڼتو یا نورو ټېرو وېښتو نه جوړه وی او دٔ رنګ او چونې کار پرې کولے شی-
چوچی:(چو-چی)اسم- واحد- مؤنث- کیسی- خلکی- بوخکې- خلتکی- پټاکېدانه- هغه کیسی چې پکښې پیسې ټکې ایښوے شی-
چوچے:(چو-چے)اسم- واحد- مذکر- چرګوړے- بچے- چیچے- چوچونے-
چوچے:(چو-چے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)هغه سړے چې سترګې یې چخې او اُبهٔ کوی- چخن- چخړن- چوپړن- (۲)اُبخې- چوخنې سترګې- چوپې-
چوخ:(چوخ)اسم صفت- واحد- مذکر- توخ- کوږ- کړوپ- ملاتیټے- شاتیټے- شاکوپے- کوپے-
چوخ:(چوخ)اسم- چخ- ځنونه- منډه- تومبنه- نټه اېستنه-
چوحانی (جو-حا-نی)اسم- بمبه-
چوحانی چوخانی:(چو-خا-نی-چو-حا-نی)اسم مرکب- ریز مریز-
چوخت:(چوخت)صفت- چخت- پیوست- نښتے- متصل- ورګېرمه- ورخرمه-
چوخته:(چوخ-ته)اسم- مؤنث- کوره- سمڅه- سمځ- ښمځ- غار- پوغله- سوره- کاره-
چوخړکه:(چوخ-ړ-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)سهنګور- سهنګېړ- کرووړه- کریړه- یو قسم اغزن بوټے چې مېوه یې وړومبے سره او وروستو توره شی- (۲)چوکه- سهرخی-
چوخړن:(چوخ-ړن)اسم صفت- واحد- مذکر- چخن- چوحن- زوبلن- چخړن- چبحن- چخے- چوپړن- پخړن-
چوخړه:(چوخ-ړه)اسم- مؤنث- وګوری چخړه-
چوخړی:(چوخ-ړی)اسم- جمع- مذکر- چحی- چخړی- چیخړی- چوحنی-
چوخښو:(چوخ- ښو)اسم- واحد- مذکر- وګوری چکښو-
چوخښکے:(چو-خښ-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)د سترګې هغه ګټ چې غوږ طرف ته وی- (۲)وښکے-
چوخکه:(چو-خ-که)اسم- واحد- مؤنث- هغه کلکه لښته چې پهٔ سر کښې یې ستن یا مېخ ټکوهلے شوے وی او غوایان یا خرهٔ پرې چوکه کوی- چخله- چوخله- چوکه-
چوخل:(چو- خل)اسم- واحد- مذکر- چوغل- سیکی- ښوننده آله- نخچک-

ی° (ئی-رل)، ی°(هي-ره-ول)، ی°(پیا-لي)، ے°(تن-دے) تفصیل د پاره وګوری تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

نخکه- یخ مالک- د یخ مالک آله-

چوخل:(چو-خل)مصدر- سکونهل- چیخل- چوحول-

چوخله:(څو-خ-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ چوخکه-

چوخلی:(چو-خ-لی)اسم- واحد- مؤنث- رَخته توپی- جګه خولی-

چوخلے:(چو-خه-لے)اسم- واحد- مذکر- جمع چوخلی- هغه بېړۀ لرګے چې ورې پرې سپېتولے شي-

چوخ مخے:(چوخ-مه-خے)اسم صفت- واحد- مذکر- تپل مخے- تپلے- بږګ مخے- چیچکی- چیچک مخے-

چوخن:(چو-خن)اسم صفت- واحد- مذکر- پخړن- چوخنے-

چوخنے:(چوخ-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- چوخړن- چیخن- چخن- چوچنے- دُ چوخړو سترګو خاوند- زوبلن- چخن-

چوخنه:(چوخ-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ چخړه-

چوخنے:(چوخ-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- چخړے- چوخړے- چوخنے-

چوخول:(چو-خه-ول)مصدر متعدي- چوکه کول- سوخول- سوغول- چوخ کول- پخیل-

چوخول:(چو-خه-ول)مصدر متعدي- راتیټول- کړوپول- کړول-

چوخون:(چو-خه-ون)حاصل مصدر- وګورئ چوخول ۱-

چوخون:(چو-خه-ون)حاصل مصدر- وګورئ چوخول ۲-

چوخونکے:(چو-خه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چوخونکی- مؤنث چوخونکې- وګورئ چوخول ۱-

چوخونکے:(چو-خه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چوخونکی- مؤنث چوخونکې- وګورئ چوخول ۲-

چوخونګ:(چو-خه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چوخول ۱-

چوخونګ:(چو-خه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چوخول ۲-

چوخونه:(چو-خه-ونه)حاصل مصدر- وګورئ چوخول ۱-

چوخونه:(چو-خه-ونه)حاصل مصدر- وګورئ چوخول ۲-

چوخونے:(چو-خو-نے)اسم- واحد- مذکر- چوکه- چیکه- چپکه-

چوخه:(چو-خه)اسم- واحد- مؤنث- چوغه- قبا- شوکه- شوته- پشمي یا وړینه چوغه-

چوخه:(چو-خه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خموالے- کږوالے- کوږوالے- (۲)د څه څیز د وچتولو د پاره اوګه ورکونه-

چوخی چوخی:(چو-خی-چو-خی)اسم صفت- مرکب- قوتی قوتی- خاپ خاپه- داغ داغ- لکه لکه- خپ خپ- ټپ ټپ-

چوخے:(چو-خے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)شاتیټے- شاکوبے- کړوپے- کوپا- کوپ- کوبے- شاتیټے- قوبے- ملاتیټے- (۲)ټکی مخے- تپلے- تپل مخے- چیچکے- چخن مخے-

چوخېدل:(چو-خې-دل)مصدر لازم- ټیټېدل- ترپېدل- کړوپېدل- کوپېدل-

چوخېدل:(چو-خې-دل)مصدر لازم- چوکه کېدل- سوخېدل- شوخېدل- سوغېدل-

چوخېدلے:(چو-خې-دَه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع چوخېدلی- مؤنث چوخېدلې- وګورئ چوخېدل ۱-

چوخېدلے:(چو-خې-دَه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع چوخېدلی- مؤنث چوخېدلې- وګورئ چوخېدل ۲-

چوخېدن:(چو-خې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ چوخېدل ۱-

چوخېدن:(چو-خې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ چوخېدل ۲-

چوخېدنګ:(چو-خې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ چوخېدل ۱-

چوخېدنګ:(چو-خې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ چوخېدل ۲-

چوخېدنه:(چو-خې-دَه-نه)حاصل مصدر- وګورئ چوخېدل ۱-

چوخېدنه:(چو-خې-دَه-نه)حاصل مصدر- وګورئ چوخېدل ۲-

چوخېدونکے:(چو-خې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چوخېدونکی- مؤنث چوخېدونکې- وګورئ چوخېدل ۱-

چوخېدونکے:(چو-خې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چوخېدونکی- مؤنث چوخېدونکې- وګورئ چوخېدل ۲-

چوخېدۀ:(چو-خې-دَۀ)حاصل مصدر او دُ ماضی استمراری دُ واحد غائب صیغه- وګورئ چوخېدل ۱-

چوخېدۀ:(چو-خې-دَۀ) حاصل مصدر او دُ ماضی استمراری دُ واحد غائب صیغه- وګورئ چوخېدل ۲-

چوخی:(چو-خی)اسم- واحد- مؤنث- چوکه- لښته- چمکی- وړه چوکه- چیکه- تېرۀ او نازکه لښته چې دُ غوایانو دُ شړلو د پاره پکارولے کېږي-

چود:(چود)اسم- واحد- مذکر- چاؤد- درز- چودے- پرلوېز- چو-

چودری:(چود-ري)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)مشر- سرکرده- ملک- (۲)معتبر- (۳)زمیدار- زمیندار-

چودری توب:(چود-ري-توب)اسم- (۱)مشري- ملکي- سرکردګي- (۲)لوئي او معتبر کېده-

چودل:(چو-دَل)مصدر لازم- وګورئ چاودل-

چودن:(چو-دن)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چدن-

چوروکی:(چو-ړو-کی)اسم- مؤنث- خور- کلک خور- دُ مندواني ختکی وغېره پوستکے- سرېېره برحمه- چوړے-

چوړه:(چو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- د لرګی توکړه- دړه-

چوړے:(چو-ړے)اسم- وګورئ چوړوکی-

چور:(چور)اسم- واحد- مذکر- (۱)لوټ- تالا- (۲)هغه تېرۀ کانړے چې شپانۀ پری د ضرورت په وخت کښي غاړری حلالوی- چوړے- چښکے-

چور:(چور)اسم صفت- واحد- مذکر- جمع چوررونه- (۱)ریز مریز- ټوټې ټوټې- (۲)بالکل- بېخي- جمع چوررونه-

چور:(چور)اسم- واحد- مذکر- (۱)تراره- قره- بره- پکره- تره- (۲)غل- غلاګرے-

www.pukhto.net

چور :(چور)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه سورے چې دَ اُبو پهٔ بند کېدو پیدا شي او اُبهٔ ترې څي- (۲)څرې- سورے- (۳)درز- (۴)دوړه- پوپو- رش-

چورا :(چو-را)اسم- وګورئ بامو-

چوراس :(چو-راس)اسم- واحد- مذکر- (۱)څلورکشته- چې څلور مخه لري- څلورمخے- (۲)دَ ترکاڼي یو قسم اوزار/آله

چورب :(چو-رب)اسم- واحد- مذکر- یو قسم باز-

چورباتی :(چور-با-تی)اسم- وګورئ چورپاتی-

چورباز :(چور-باز)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)بچه باز- هلک باز- (۲)بدعمله- بداخلاقه-

چوربازی :(چور-با-زی)اسم- مؤنث- (۱)هلکان ساتنه- هلک بازی- بچه بازی- (۲)بدعملي- بداخلاقي-

چوربل :(چور-بل)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ پزي دَ وېښتو نه جوړ شوے پړے یا تېرسرے- چړبل- دَ چېلی دَ وېښتو نه جوړه رسی- (۲)دَ اس جلب چې لهٔ وژغمو او تاروتو نه جوړولے شي-

چوربور :(چور-بور)اسم صفت- واحد- مذکر- مغرور- کبرژن- کاکه-

چورپاتی :(چور-پا-تی)اسم- واحد- مؤنث- چورپتی- چورباتی- څراغ-

چورت :(چو-رت)اسم- واحد- مذکر- (۱)څرت- فکر- (۲)اندېښنه- (۳)یو وار نسوار- یو ځله نسوار-

چورتک :(چور-تک)اسم- واحد- مذکر- یو قسم بوټی-

چورتی :(چو-رتی)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)چورتی- فکرمن- پرېشان- خفه- دلګیر- اندېښمن- متفکر- (۲)خوشاله- خوش مزاجه- خوش طبیعته- (۳)عیشی- عیش کونکے-

چورټ :(چو-رټ)اسم- واحد- مذکر- غټ سیګرټ- یو قسم سګرټ- چرټ-

چورچر :(چور-چر)اسم صفت- چور چور- کنډ کپر- کنډ و کپر- مات رامات- کنډو کنډوُ- دره داړ- مات ګډ-

چورچکا :(چور-چ-کا)اسم- واحد- مؤنث- دا کلمه دَ "اکابکا" سره یو ځایِ استعمالیږي لکه اکابکا کهٔ چورچکا- د یوي لوبي نوم-

چورچور :(چور-چور)اسم صفت- واحد/جمع- مذکر- (۱)کنډ کپر- کنډ و کپر- کنډرې کونډرې- ړانګې پړبل- (۲)پهٔ نشه کښې مست- بې خوده- عاشق- سخت عاشق-

چورچوړ :(چور-چو-رړ)اسم صفت- واحد- مذکر- پوخناه- معقول- خبرلوڅ- ترټو-

چورچوړ :(چور-چو-رړ)اسم- واحد- مذکر- دَ اُبو مور- کیرړے- چرچړک- یو قسم حشره چې پهٔ شپه کښې دَ چړ چړ آواز کوي-

چورچوړکے :(چور-چو-رړکے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چرچوړکی-

چورچوړی :(چور-چو-رړی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ چرچوړکی-

چورړنګ :(چور-ړنګ)اسم صفت- واحد- مذکر- چهلیت- نرے-

چورکنډے :(چور-کن-ډے)اسم- مذکر- برنډے- ګرخندوکے- چرلندے- چورلکه-

چورکی :(چور-کی)اسم- واحد- مؤنث- مرغابی- یو قسم حلال مارغهٔ سائنسي نوم اناس کریکا (ANAS CRECCA)-

چورلانس :(چور-لان-ښس)اسم- ګېر چاپېر چورلېدنه-

چورلاوو :(چور-لا-وو)اسم- واحد- مذکر- مشین-

چورلت :(چور-لت)اسم صفت- مذکر- (۱)ټول - تمام- بالکل- بیخي- سراسر- سکوټ- سکټ- څکټ- کرټ- ګرسره- (۲)کند کپر- توټې توټې- چرچور- دړې-

چورلت :(چور-لت)اسم- واحد- مذکر- ګاټې کښې چورلېدونکے دَ لرګی ګول لټ- ارمکے- ارمک-

چورلته :(چور-ل-ته)اسم- مؤنث- وګورئ چورلت-

چورلک :(چور-لک)اسم- واحد- مذکر- پېر- څرخ- تاؤ- ګردش- دور-

چورلکه :(چور-ل-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ پنې مخکښینۍ او وروستنۍ برخه- (۲)دَ لرګی څرخ- چورلندے- چولکے-

چورلکے :(چور-ل-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)چورلکه- دَ پنې چورلکه- چورنکے- (۲)ختنجکے- دَ ښځې د تناسلی آلت خینجکے-

چورلن :(چور-لن)اسم صفت- ګېر چاپېر- هغه شے چې ځوک ترې بچ نهٔ شي- پهٔ ټولو یو شان-

چورلنده :(چور-لن-ده)اسم صفت- واحد- مذکر- تاوېدونکے- ګرځېدونکے- ګرځېدونکے- سېل کونکے-

چورلندے :(چور-لن-دے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ګرخندوکے- ګرخندنے- چورلندے- لاټو- برلندے- چورلے- ګرخنے- چورخلک- تلپلے- ګرزندے- برندے- دَ لرګی څرخ چې ماشومان پرې لوبې کوي- (۲)چاپېره تاوېدنه- جمع چورلندی-

چورلندے :(چور-لن-دے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ګرخندے- غولی- غلغلی- چکر- پېر- (۲)ګربنده- دَ پېریانو پولی- بادامه- ګېر چاپېره چورلېدونکې او تاوېدونکې اُبهٔ- د سېلی هغه بادامه چې پهٔ یو ځایِ چورلی او بیا پهٔ پورته الوځي- چورلندے-

چورلندی :(چور-لن-دی)اسم- واحد- مؤنث- ګرخندے- چورلکه-

چورلنړ :(چور-لنړ)اسم صفت- واحد- مذکر- لغړ- لوچک- اوباش- لنډر- چورلنړے- جمع چورلنړان-

چورلنړتوب :(چور-لنړ-توب)اسم- مذکر- چورلنړوالے- لغړتوب- اوباشي- لنډرتوب-

چورلنړوالے :(چور-لنړ-وا-لے)اسم- مذکر- وګورئ چورلنړتوب-

چورلنړے :(چور-لن-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)وګورئ چورلنړ- (۲)وګورئ چورلندے- جمع چورلنړي-

چورلول :(چور-لو-ول)مصدر متعدی- (۱)ګردش ورکول- ګرخول- څرخ ورکول- تاوول- پېر ورکول- سرګردانه کول- ګېر چاپېره ګرځول-

www.pukhto.net

کړ چاپېره کول- (۲)کوړل- نځول-

چورلولے:(چور-لهـ-ولے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع چورلولي- مؤنث چورلولې- وګورئ چورلول-

چورلون:(چور-لهـ-ون)حاصل مصدر- وګورئ چورلول-

چورلونکے:(چور-لهـ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چورلونکي- مؤنث چورلونکې- وګورئ چورلول-

چورلونګ:(چور-لهـ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چورلول-

چورلونه:(چور-لهـ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ چورلول-

چورله:(چور-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د اُبو موری- دَ اُبو ورخ- د اُبو رو- چورن- (۲)سولولے غړ-

چورله بابا:(چور-لهـ-با-با)اسم- واحد- مؤنث- چولانهس- دَ ورو ماشومانو يوه لوبه-

چورلی غرب:(چور-لی-غرب)اسم- مذکر- خودکاره وسلهه- مشين ګن-

چورلېخے:(چور-لې-خے)اسم- مذکر- هغه مېخ چې مشين يا څرخ پرې تاوېږی-

چورلېدل:(چور-لې-دل)مصدر لازم- (۱)څرخ خوړل- تاوېدل- څرخېدل- ګردش کول- پېر وهل- کېر چاپېره ګرځېدل- کېرچاپېره کېدل- پېرونه خوړل- (۲)کوېدل- نځېدل-

چورلېدلے:(چور-لې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ چورلېدل-

چورلېدن:(چور-لې-دن)حاصل مصدر- وګورئ چورلېدل-

چورلېدنګ:(چور-لې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چورلېدل-

چورلېدنه:(چور-لې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ چورلېدل-

چورلېدونکے:(چور-لې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چورلېدونکي- مؤنث چورلېدونکې- وګورئ چورلېدل-

چورلېدهٔ:(چور-لې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ چورلېدل-

چور لېونے:(چور-لې-ونے)اسم صفت- سکټ لېونے- بېخي لېونے- جمع چور لېوني-

چورلی:(چور-لی)اسم- واحد- مؤنث- شپېلق- شپېلکه- شپېلے- شورشورے- شپولکه-

چورلے:(چور-لے)اسم- واحد- مذکر- (۱)چمبر- (۲)چړلے- چورلکے- (۳)چورلندے- (۴)چارمغز- غز- جوز- اکوړ- مېکه- (۵)دَ مشين څرخ- (افغانستان)-

چورلے غرب:(چور-لی-غرب)اسم- مذکر- خودکاره وسلهه- مشين ګن-

چور ماچور:(چور-ما-چور)اسم صفت- وګورئ چور مچور-

چور مچور:(چور-م-چور)صفت- (۱)ريز مريز- ذري ذري- ټوټې ټوټې- بېخي مات- ريچې ريچې- ريچ ريچ- بسمي بسمي- ټکړې ټکړې- چوري چوري- ټيکه ټيکه- پاره پاره- (۲)سوے لوے- عاشق-

چورمښتی:(چور-مښ-تی)اسم- مؤنث- کربوړے- چرمښکی-

چورن:(چو-رن)اسم- مذکر- تندرکے- دَ اُبو موری- تری- پرناله-

چورن:(چو-رن)اسم- واحد- مذکر- هغه مېده حکيمی دارو چې دَ هاضمې دَ پاره استعمالولے شی- چونړی- تلے- کپه- کپه- پکه- تاله-

چورندک:(چو-رن-دک)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چتے-

چورنکے:(چو-رن-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چورلکے-

چورنګ:(چو-رنګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)پهٔ يو وار دَ ګاروېو پښې پرېکونه- (۲)تېغ- توره- (۳)پرهر- ټپ- زخم- پرهار- دَ تورې چلولو مشق- (۴)زخمی- سورے-

چورنګ:(چو-رنګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)سفوف- (۲)زورنګ-

چورنکے:(چو-رن-کے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم مېږ- سائنسی نوم کوټرنکس (CUTURNIX)- جمع چورنکيان-

چوره:(چو-ره)اسم- واحد- مؤنث- دَ فتق بيماری- دَ دغې ناروغی ځائې- هغه سړے چې دَ خوټو يا اکېو دَ پاړسوب پهٔ ناروغی اخته وی-

چوره:(چو-ره)اسم صفت- واحد- مؤنث- خوفناکه دره- چوری- جمع چورې-

چوره:(چو-ره)اسم- مؤنث- (۱)يو قسم شيرينی- شکره- بوره- چينی- شيرينی- ترې- (۲)پوډر- وش- سفوف- (۳)دَ مرغلرو دَ چورې پهٔ شان خلمدونکے-

چوره:(چو-ره)ضمير- څومره-

چوره چوره:(چو-ره-چو-ره)صفت- ريز مريز- ذري ذري-

چوری:(چو-ری)اسم- مؤنث- مېده کړے شوې روټۍ چې پکښې غوړی او حواږهٔ ګډ کړے شوی وی- مېده شوے غوړ خوراک-

چوری بردار:(چو-ری-بر-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- دَ غلا مال وړونکے- غلا کړے- مال ځنه وړونکے کس- (۲)چوری وړونکے-

چوری چوری:(چو-ری-چو-ری)اسم مرکب- (۱)طوطی يا ښارو له پووی يا بله خوراکه- خس خس- دَ اُموختهٔ مارغهٔ دَ رابللو آواز- (۲)وګورئ چور مچور- (۳)د چوری مباشت-

چوری:(چو-ری)اسم- واحد- مؤنث- مچ بېګه- مچ شړونے- هغه ببوزے چې دَ اس دَ لکې وېښتو نه جوړولے او مچان پرې شړلے شی- ترووری- پېکه-

چوری:(چو-ری)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)هغه جينۍ چې پهٔ محفلونو کښې صندرې وائی- مجلسی پېغله- (۲)معشوقه- محبوبه- (۳)ناسته جينۍ- (۴)سهيلۍ- (۵)مزدوره-

چورے:(چو-رے)اسم- (۱)توښه- توشه- خوراک- (۲)توبره-

چورے:(چو-رے)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه ځناور چې لم ئې سپين وی-

چورے:(چو-رے)اسم- واحد- مذکر- څوړې- بچے- بچوړے- بچوړکے- مچوړکے-

چورے:(چو-رے)اسم- واحد- مذکر- (۱)غين- ذکر- دَ نارينه آلهٔ تناسل- (۲)ګډېدونکے- لښتی- بازينګر-

www.pukhto.net

چوړ:(چُوړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)چوړ- دَ دروازې يا کټ چوړ او پونکې- (۲)هغه درز يا سوری چې په لرګي کښې په سولې يا پانه شوی وي- (۳)کړی- غوړاشه- غوړپاشه- غړوندی- جغتو-

چوړ:(چ-وَړ)اسم صفت- وران- تباه- برباد- ويران- خراب- (کول- کېدل مصدرونه)-

چوړ:(چوړ)اسم صوت- شوړ- شړ- شور- شورهار- شړهار- شړپهار- دَ اُبو دَ راتوېدلو آواز-

چوړ:(چوړ)اسم- (۱)پېچ- جندر- جدر- متل- (۲)کوزبدنه- (د اس يا بس نه)- (۳)کمګالونه-

چوړا:(چو-ړا)اسم- واحد- مذکر- وبے- بنګړے- ګجره- کوجره- چوړے- چوړے- چوړاو- د لاسو کالے-

چوړا:(چو-ړا)اسم صفت- واحد- مذکر- چوغ سترګے- چپک- چمګ سترګے- چغ سترګے-

چوړاغ:(چُو-ړاغ)اسم- (۱)دَ کاڼي چاؤد- دَ تيږي درز- (۲)دَ اُبو لاره- جمع چوړاغونه-

چوړاو:(چُو-ړاو)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چوړا-

چوړچوړک:(چُوړ-چُو-ړک)اسم صفت- واحد- مذکر- ورکوټے ماشوم- طفل- کمکے ملک- کوچنے ماشوم- کوچنے- جمع چوړچوړکان-

چوړک:(چو-ړک)اسم- واحد- مذکر- (۱)قلف- کولپ- کُلپ- کُنجي- تاله- (۲)دَ دروازې اړم- تمبه او توماچو-

چوړکی:(چوړ-کی)اسم- واحد- مؤنث- چوړکی- چړوکی- وړه چاړه- چاړه-

چوړکه:(چُوړ-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ اُبو لهٔ کبله پهٔ زمکه کښې چوړ شوے درز- سمخ- وړه غار- وړوه سوړه- (۲)دَ دروازې دَ لرګي کولو پهٔ وخت د دروازې او چوکاټ پهٔ مېنځ کښې لږه فاصله- جمع چوړکې-

چوړلونکے:(چوړ-ل-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- سلېښونکے- مښونکے-

چوړنګ:(چو-ړنګ)اسم صفت- چونګ ابهٔ کوټ اُبهٔ لږ څهٔ اُبهٔ يو غړپ-

چوړو:(چو-ړو)اسم- مذکر- شخدو- شخه دو- صخدو- سوړے- تبخک- چوړے- شپخدو- يو قسم خړرنګه مرغی چې لکۍ ئې وړه وي-

چوړول:(چو-ړول)مصدر متعدی- (۱)بربادول- تباه کول- قتلول- وراڼول- پوهنا کول- (۲)پلنول-

چوړول:(چُو-ړول)مصدر متعدی- (۱)شړول- چړول- (۲)بېول- جاری کول- لږې لږې اُبهٔ چړول يا تويول- (۳)کوزول- ښکته کول-

چوړون:(چو-ړون)حاصل مصدر- وګورئ چوړول-

چوړون:(چُو-ړون)حاصل مصدر- وګورئ چوړول-

چوړونکے:(چو-ړوون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چوړونکی- مؤنث چوړونکې- وګورئ چوړول-

چوړونکے:(چُو-ړوون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چوړونکی- مؤنث چوړونکې- وګورئ چوړول-

چوړونګ:(چو-ړونګ)حاصل مصدر- وګورئ چوړول-

چوړونګ:(چُو-ړونګ)حاصل مصدر- وګورئ چوړول-

چوړونه:(چُو-ړونه)حاصل مصدر- وګورئ چوړول-

چوړونه:(چو-ړونه)حاصل مصدر- وګورئ چوړول-

چوړوهٔ:(چو-ړوهٔ)حاصل مصدر- وګورئ چوړول-

چوړوهٔ:(چُو-ړوهٔ)حاصل مصدر- وګورئ چوړول-

چوړه:(چو-ړه)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱) کونه- بدلمنه ښځه- (۲)بې حايه-

چوړهار:(چوړ-هار)اسم صوت- دَ تېزو اُبو دَ بهېدو آواز- شورهار- شوړهار- شړپهار- شړار-

چوړيا:(چو-ړيا)اسم- مؤنث- يو قسم کېږه چې پړې کرښې وي-

چوړېل:(چو-ړېل)مصدر متعدی- پهٔ سر پټو يا بل لېسدار څيز دوه څيزونه پيوست کول- نښلول- مښلول- خنجول- سلېښول- سرېښول- پېوست کول-

چوړېلے:(چو-ړېلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ چوړېل-

چوړېنه:(چو-ړېنه)حاصل مصدر- وګورئ چوړېل-

چوړېونکے:(چو-ړېون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چوړېل-

چوړېدل:(چو-ړې-دل)مصدر لازم- بربادېدل- تباه کېدل- قتلېدل- وراڼېدل- پوهنا کېدل-

چوړېدل:(چو-ړې-دل)مصدر لازم- (۱)چړېدل- جاری کېدل- دَ اُبو بهېدل- (۲)کوزېدل- ښکته کېدل-

چوړېدلے:(چو-ړې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع چوړېدونکی- مؤنث چوړېدونکې- وګورئ چوړېدل-

چوړېدن:(چو-ړې-دن)حاصل مصدر- وګورئ چوړېدل-

چوړېدن:(چو-ړې-دن)حاصل مصدر- وګورئ چوړېدل-

چوړېدنګ:(چو-ړې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چوړېدل-

چوړېدنګ:(چو-ړې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چوړېدل-

چوړېدنه:(چو-ړې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ چوړېدل-

چوړېدنه:(چو-ړې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ چوړېدل-

چوړېدونکے:(چو-ړې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چوړېدونکی- مؤنث چوړېدونکې- وګورئ چوړېدل-

چوړېدونکے:(چو-ړې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چوړېدونکی- مؤنث چوړېدونکې- وګورئ چوړېدل-

چوړېدهٔ:(چو-ړې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ چوړېدل-

چوړېدهٔ:(چو-ړې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ چوړېدل-

چوړېل:(چو-ړېل)اسم- مذکر- رانخرۀ- نباتاتي نوم سيډرس دېوداره CEDRUS - DEODARA

چوړے:(چو-ړے)اسم صفت- واحد- مذكر- (۱)جواړے- مُسلی- مېکی- مهتر- خاکروب- شاخېل- تک نور- چنگړے- چنگړ- (۲)هغه سړے چې د مجرم د پهانسی کولو په وخت د کومی څرخ تاووی- (۳)کم ذاته- (۴)د عیسائی قوم یو غړے- جمع چوړیان- مؤنث چوړې-

چوړے:(چو-ړے)اسم صفت- مذكر- (۱)ببېن- (۲)پوړے- (۳)چپول- (۴)چوړړو-

چوز:(چوز)اسم صفت- واحد- مذكر- (۱)د باز یو قسم- چکرباز- د ښکار د پاره نوے تیار شوے باز- (۲)یو کلنے باز- د باز بچے- (۳)د ښځو اندام نهانی-

چوزا:(چو-زا)اسم- واحد- مذكر- د چپوس یو قسم-

چوزه:(چو-زه)اسم صفت- واحد- مؤنث- بې مخې ښځه- شلکلې ښځه- شانسته ښځه-

چوزه:(چو-زه)اسم- واحد- مذكر- (۱)چوزے- چرګوړے- (۲)د کم عمر- بچه- (۳)ناشانسته هلک-

چوزے:(چو-زے)اسم صفت- واحد- مذكر- چغری- نازک- کاغذی- چمچی- کوعدی-

چوزے:(چو-زے)اسم- واحد- مذكر- (۱)چرګوړے- د چرګې بچے چې د حلالولو جوګه وی- (۲)دوزی بېړی (سپېته)-

چوس:(چُوس)اسم- واحد- مذكر- (۱)کم قیمته څیز- بې قیمته څیز- (۲)د خارری لری کولمې- (۳)لید- نظر- حس- لمس- تماس-

چوس:(چوس)اسم صفت- واحد- مذكر- خسیس سړے- چوسک- خساست-

چوسار:(چو-سار)اسم- واحد- مذكر- (۱)شرمخ- لیوه- رنده- (۲)سوان- یو قسم سوان (سوهار)- سیوں- سومن- سپین توږے-

چوستے:(چُوس-تے)اسم- واحد- مذكر- (۱)د غنارر لرې کولمې- پتروجی- (۲)د خېټې پرده- د نس برنغ یا پرده- ګوښتے- ګبنکورے-

چوس خور:(چُوس-خور)اسم صفت- واحد- مذكر- شوم- بخیل- زړ سترګے- چوسکن- اروادوے- سترورے- چوسلوړ- لالچی-

چوسر:(چُو-سر)اسم- د شطرنج په شان یوه لوبه-

چوسک:(چُوسک)اسم- تلاش کونه- په یو څیز پسې ګرځېدنه- لټونه- چوس-

چوسک:(چُو-سک)اسم- صفت- واحد- مذكر- وګورئ چوس-

چوسکن:(چُوس-کن)اسم صفت- واحد- مذكر- وګورئ چوس خور-

چوسکتوب:(چُوس-کن-توب)(۱)زړوسترګی- (۲)بُخل- شوموالے- بخیل توب-

چوسکوَل:(چوس-کهٔ-نه-وَل)مصدر متعدی- د چوس عادت پکښې پیدا کول- اروا ورے کول- بدخویه کول-

چوسکنونکے:(چُوس-کهٔ-نه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذكر- اروا ورے کونکے- ورسترګے کونکے- د چوس عادت پکښې پیدا کونکے-

چوسکنېدل:(چُوس-کهٔ-نې-دل)مصدر لازم- شوم کېدل- بخیل کېدل- اروا ورے کېدل- د چوس عادت پکښې پیدا کېدل-

چوسکېدن:(چُوس-کهٔ-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ چوسکنېدل-

چوسکېدنګ:(چُوس-کهٔ-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چوسکېدل-

چوسکېدنه:(چوس-کهٔ-نې-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ چوسکنېدل-

چوسکنېدونکے:(چوس-کهٔ-نې-دون-کے)اسم صفت فاعل- واحد- مذكر- جمع چوسکنېدونکی- مؤنث چوسکېدونکې- وګورئ چوسکېدل-

چوسکېدهٔ:(چوس-کهٔ-نې-ده)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ چوسکېدل-

چوسل:(چو-سل)مصدر متعدی- (۱) چوسول- چوپل- راکښل- چوول- رودل- په خُلهٔ د څهٔ زېښه یا رس راکښل- (۲)احساسول- لمس کول- سره لګېدل-

چوس مار:(چوس-مار)اسم صفت- واحد- مذكر- وګورئ ړوړی غړے-

چوسه:(چو-سه)اسم- مؤنث- سستی- لټوالے- کاهلی- کهالی- لټی- تنبلی- ماراستی-

چوسے:(چوسے)اسم- واحد- مذكر- د ترکانې ازار چې د لرګی کوږ سورے سعوی-

چوسی:(چو-سی)اسم- مؤنث- چمبېره- جوری- چولے- چنګے-

چوشتے:(چوش-تے)اسم- واحد- مذكر- وګورئ چوښتے-

چوشک:(چو-شک) اسم- واحد- مذكر- (۱)هغه بوتل چې ماشومانو له پرې پئ ورکولے شی- چشنی- (۲)هغه کوزه چې پکښې څحکوړے وی-

چوشکی:(چوش-کی)اسم- زرملان- څپلانځ-

چوشنی:(چُوش-نی)اسم- واحد- مؤنث- هغه کول د ربړ شے چې د تی په شان وی او ماشومان یې چوپی-

چوشی:(چو-شی)اسم- وګورئ چنګے-

چوښتے:(چوښ-تے)اسم- واحد- مذكر- (۱) د خارړو غلانځه- (۲)ګوښکورے-

چوښکور:(چوښ-کور)اسم- واحد- مذكر- وګورئ چوښکه-

چوښکه:(چوښ-که)اسم- واحد- مؤنث- کشکول- څحکوړے- څوښکوړے- چوشکے- چوښکے- چسکوړے- سنت- څوسکوړے- چوشتے-

چوغ:(چوغ)صفت- واحد- مذكر- (۱) چوغ- چوخ- کوږ- کُبے- نیټ- قبے- چوعے- کړک- کوړک- (۲)تنګ-

چوغ:(چوغ)اسم- پوغل- چوغنه- قوتے- هغه سُورے چې پوری راپورې نهٔ وی وتے-

چوغا:(چو-غا)اسم- واحد- مذكر- وګورئ چوغه-

چوغالے:(چو-غا-لے)اسم- واحد- مذكر- (۱)د اوښانو د تړلو ځائ- د اوښانو طبېله- (۲)د اوښانو د پچو بېړے- (۳)د سخا اُبو پنه- د سخا ابو پوغل- جمع چوغالی-

چوغالے:(چو-غا-لے)اسم- واحد- مذكر- تاخ- تاخچه- کوعالے-

چوغانے:(چو-غا-نے)اسم- مذكر- پوغل- کنده- غوج- کوندره-

چوغ بوغ:(چوغ-بوغ)اسم صوت- غل غوبل- غوغا- شور زوږ- شور بګت- عالمغال- چغ پغ- چوغ بوغ-

چوغ پوغ:(چوغ-پوغ)اسم صوت- وګورئ چوغ بوغ-

زمو (ج مهٔ ره) ووړکې (شل) پښن (مو کا ره) ومو ر د مات) حوم (شکوں) ه (ر ره) هٔ (چو-سې-دهٔ)

www.pukhto.net

چوغر (چو-غر)صفت- واحد- مذکر- وګورئ چغر-

چوغړے:(چوغ-ړے)اسم صفت- واحد- مذکر- غوړېدلے- وېږ- سپړلے- سپړدے- سپنډلے-

چوغ سترګے:(چوغ-ستر-ګے)اسم صفت- واحد- مذکر- چغ سترګے- چنګ سترګے- چپلقے سترګے- جمع چوغ سترګي-

چوغبکے:(چو-غښ-کے)اسم- واحد- مذکر- دَ سترګې هغه کنج چې د غوږ خوا ته وی- د سترګې کنج-

چوغک:(چو-غک)اسم- واحد- مذکر- (۱)یو قسم بوټے چې سره مېوه نیسی او مېوی ته یې حجوغے وائی- د پېچش او دَ دستونو د پاره استعمالولے شی-

چوغکه:(چو-غ-که)اسم- واحد- مؤنث- کوټواله- چنچنه- چرچنه- چېچنه- یو قسم مرغی-

چوغکی:(چو-غهٔ-کی)اسم- (۱)چوغلی- چغلی- شېطانی- غمازی- چوغولی- (۲)وګورئ ارمنه-

چوغل:(چو-غل)اسم- مذکر- چوځل- ځځکه دَ سکی اله- هغه ښوننده اله چې دَ سکی لوبه پرې کولے شی ښوندے- ښوندے-

چوغل:(چو-غل)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)چغلی خور- غماز- شېطان- چغلی مار- چوغلیکور- چوغلګر- (۲)لغت غلبېل- چغل- چمل- د لویو سوریو غلبېل-

چوغلګر:(چو-غل-ګر)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ چوغل-

چوغلی:(چوغ-لي)اسم- چوغلګوزی- شېطانی- خبره رسونه- غمازی- مواسی- چوغلیکری- خبره وړنه- چغلی- (کول مصدر)-

چوغلی خور:(چوغ-لی-خور)اسم صفت- خبره وړونکے- چوغلی جوړونکے- غماز- شېطان- چوغلی مار- مواس- هغه څوک چې چوغلی کوی-

چوغندر:(چو-غن-در)اسم- چوقندر- چقندر- چغندر- نباتاتی نوم بېټا ولګېرس- (BETA VULGARIS)-

چوغنه:(چو-غهٔ-نه)اسم- پوغل- توتے- پرغله- کوندرے- کوتے- کوت-

چوغول:(چو-غه-ول)مصدر متعدی- تېټول- کږول- پټول- کوږکول- کږکول-

چوغون:(چو-غه-ون)حاصل مصدر- وګورئ چوغول-

چوغونکے:(چو-غه-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چوغونکی- مؤنث چوغونکې- وګورئ چوغول-

چوغونګ:(چو-غه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چوغول-

چوغونه:(چو-غه-ونه)حاصل مصدر- وګورئ چوغول-

چوغوهٔ:(چو-غه-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ چوغول-

چوغه:(چو-غه)اسم- واحد- مؤنث- قبا- چمه- چوخه- شوکه- شوقه- یو قسم چپنه-

چوغه:(چو-غه)اسم- مؤنث- کوږوالے- خم والے-

چوغېدل:(چو-غې-دل)مصدر لازم- کږېدل- تېټېدل- کوږکېدل- پټېدل-

چوغېدن:(چو-غې-دن)حاصل مصدر- وګورئ چوغېدل-

چوغېدنګ:(چو-غې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چوغېدل-

چوغېدنه:(چو-غې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ چوغېدل-

چوغېدونکے:(چو-غې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چوغېدونکی- مؤنث چوغېدونکې- وګورئ چوغېدل-

چوغېدهٔ:(چو-غې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ چوغېدل-

چوغی سترګے:(چو-غی-ستر-ګے)اسم صفت- واحد- مذکر- چوچے- هغه څوک چې سترګې یې وړې وی او نظر یې کم وی-

چوغے:(چو-غے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ټیټا- کوبے- کوبے- کوپے- قوبے- هغه څوک چې ملا یې ټیټه وی- (۲)چوغ سترګے- تنګ سترګے- چوچے- هغه څوک چې سترګې یې وړې وی- مؤنث چوغی-

چوف:(چوف)اسم- واحد- مذکر- دم پوکونه- چف- کوف- دم- جمع چوفونه- (کول- کېدل مصدرونه)-

چوک:(چوک)اسم- واحد- مذکر- (۱)چارسو- دَ څلورو لارو یا سړکونو یو بل سره دَ ملاوېدو یا پرېکولو ځائ- (۲)هغه ځائ چې دَ کلی اولس خلق پکښې ټولېږی- چونګ- حجره- دېره- جمع چوکونه-

چوک:(چوک)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)پهٔ یوه سترګه ړوند- یو سترګے- (۲)لږ شیز- پوټے- ذره- ټوکے- بکسکے- (۳)نقصان- کمے- زیان- (۴)بېړی- سولېدلې سپېتنه- چتره- سولولې شوی بېړی-

چوک:(چوک)اسم- واحد- مذکر- (۱)پهٔ کوږو شوے اوښ- (۲)خصی شوے اوښ- (۳)دَ اوښ دَ خوب دَ پاره کښېناستنه-

چوک:(چوک)اسم- (۱)دَ خوښې کار- د زړهٔ کار- پهٔ طبع برابر- برابر کار- پهٔ طبیعت برابر کار- دَ طبیعت موافق کار- مطوبه چاره- دَ مرضی کار- (۲)پک- جمع چوکونه-

چوک:(چ-وک)اسم- واحد- مذکر- هغه لښته چې اېښ یا د اېو پهٔ شان بل نرم څیز پرې اندازه کولے شی- کټے- جمع چوکونه-

چوک:(چوک)صفت- څوک-

چوکاټ:(چو-کاټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ دروازې هغه برخه چې تمبې پکښې ګرځی- قالب- د ور فریم- اړاړه- چوکټ- چارچوبه- هغه څلور لرګی چې تمبه پکښې لګولے شی- د دروازې هغه څلور ګنډېزه برخه چې پلې پکښې نصب وی- (۲)محدود- تعین- تعیّن شوی شرائط- متعین حدود- حدود- جمع چوکاټونه-

چوکاټکے:(چو-کاټ-کے)اسم تصغیر- واحد- مذکر- وړوکے چوکاټ- اړاړه- جمع چوکاټکی-

چوکاټی:(چو-کا-ټی)اسم صفت- واحد- مذکر- د چوکاټ- چوکاټ ته منسوب- پهٔ چوکاټ مربوط- جمع چوکاټی-

چوکتار:(چوک-تار)اسم- واحد- مذکر- د چوکې مېخ- هغه مېخ چې پهٔ چوکه

ی (ښی-رل)، ی (مې-ره-ول)، ی (بیا-لی)، ې (تن-دې) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۹

www pukhto net

کښې د غواګانو د شړلو د پاره ټک وهلے شي۔

چوکټ:(چو-کټ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چوکاټ۔

چوک چوک:(چوک-چوک)اسم صفت- لږ شان- کم کم- پخه پخه- نره نره- لږ لږ- چونګ چونګ- پوټے پوټے- بکسکے بکسکے۔

چوک چوک:(چوک-چوک)اسم مرکب- د هغه اواز تلفظ چې د ژبې د سر او پورتنی تالو تر مینځ د هوا تېرېدو څخه راوځي- دغه آواز د زړه سوی، افسوس او حسرت په وخت کښې ایستلے شي- هغه آواز چې د خلې نه د افسوس په وخت وځي- د افسوس کلمه۔

چوک چوکه:(چوک-چو-که)اسم- آوازه- زنګه- زمزمه- شوره- شهره- خبره خورېدنه- آوازه کېدنه۔

چوکر:(چو-کر)اسم صفت- واحد- مذکر- خدمتګار- نوکر- خادم- مزدور- چاکر- چوپړے- دوربه- دربه۔

چوکر:(چو-کر)اسم- مذکر- د څناورو خوراک۔

چوکره:(چوک-ره)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ساتلے ملک- (۲)تابعدار- د بل تابع- (۳)ملک - ماشوم- وړوکے- (۴)نادان- ناتجربه کار۔

چوکره توب:(چوک-ره-توب)اسم- واحد- مذکر- د ساتلی ملک په توګه چا سره وخت تېرونه- ساتلے کېدنه- د چوړباز سړی ملک یا وړوکے پاتې کېدنه- ملک توب۔

چوکری:(چوک-ری)اسم- مؤنث- د چلویری ساګ- چوکرے- د چولائی ساګ- یو قسم ساګ- نباتاتی نوم ایمرنتهس پولی ګیمس (Amaranthus polygamus)۔

چوکرے:(چوک-رے)اسم- مذکر- وګورئ چوکری۔

چوکړ:(چو-کړ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)هغه سړے چې په زنه ئې ږیره وی او نوره نه وی- (۲)روند- چوک سترګے- (۳)نوکر- چاکر- غلام۔

چوکړک چوکړک:(چوک-ړک-چوک-ړک)اسم صوت- د اوښ د رابللو آواز۔

چوکړه:(چوک-ړه)اسم صفت- مؤنث- خوره او تارتار ږیره- رنګی ږیره- ګوکړه ږیره- ګوکړه- رنګړی ږیره- چوکړه ږیره۔

چوک سترګے:(چوک-ستر-ګے)اسم صفت- واحد- مذکر- چغر- یو سترګے- کوږ سترګے- چغ سترګے- هغه څوک چې یوه سترګه ئې وړه یا ړنده وی۔

چوکک:(چو-کک)اسم- واحد- مذکر- هغه لرګے چې په زمکه کښې ښخ وی او ورپورې دام تړلے شي۔

چوکل:(چو-کل)مصدر متعدی- چو کول- چوف کول- کوف کول- دمول- دم په چا پوکول- چف کول- دم اچول- دم کول- دم ورباندې پوکول۔

چوکل:(چو-کل)اسم- لړې أبنه- په عوه کښې وړه چینه- تنکے۔

چوکل:(چو-کل)مصدر متعدی- وزن کول- تلل۔

چوکله:(چو-که-له)اسم- مؤنث- وګورئ څلورمخے۔

چوکلے:(چو-که-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع چوکلي- مؤنث چوکلې- وګورئ چوکل۔

چوکن:(چو-کن)حاصل مصدر- وګورئ چوکل ۱۔

چوکندے:(چو-کن-دے)اسم- مذکر- چوپال- پینګ- کوتخه- چولندی۔

چوکنه:(چو-که-نه)حاصل مصدر- وګورئ چوکل۔

چوکو:(چو-کو)اسم- هغه لښته یا نرے لرګے چې غواګان پرې شړلے شي- قمچینه۔

چوکو:(چو-کو)اسم صوت- د غوا وغیره د شړلو آواز- چوکو چوکو۔

چوکو چوکو:(چو-کو-چو-کو)اسم صوت- وګورئ چوکو ۲۔

چوکوړ:(چو-کوړ)اسم- څلور ګوټے- څلور ګوټیز۔

چو کول:(چو-که-ول)مصدر متعدی- (۱)په ګوټو کول- بېټول- څملول- په څلوری کول- څې کول- اوښ کښېنول۔

چوکول:(چو-که-ول)مصدر متعدی- برابرول- ښه کول- بهترول- په ذوق برابرول۔

چوکول:(چو-که-ول)مصدر متعدی- کښېنول- لکول- ښخول- پنیرے لګول- کاڼ لګول- بوټے لکول۔

چو کون:(چو-که-ون)حاصل مصدر- وګورئ چو کول۔

چوکون:(چو-که-ون)حاصل مصدر- وګورئ چوکول۔

چوکون:(چو-که-ون)حاصل مصدر- وګورئ چوکول۔

چوکوندی:(چو-کون-دی)اسم- مؤنث- سکنهاره- سکندی۔

چوکونکے:(چو-کون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ چوکل۔

چوکونکے:(چو-که-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر جمع چو کونکي- مؤنث چو کونکې- وګورئ چو کول۔

چوکونکے:(چو-که-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چوکونکي- مؤنث چوکونکې- وګورئ چوکول۔

چوکونکے:(چو-که-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چوکونکي- مؤنث چوکونکې- وګورئ چوکول۔

چو کونګ:(چو-که-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چو کول۔

چوکونګ:(چو-که-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چوکول۔

چوکونګ:(چو-که-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ چوکول۔

چو کونه:(چو-که-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ چو کول۔

چوکونه:(چو-که-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ چوکول۔

چوکونه:(چو-که-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ چوکول۔

چو کوه:(چو-که-وه)حاصل مصدر- وګورئ چو کول۔

چوکوه:(چو-که-وه)حاصل مصدر- وګورئ چوکول۔

چوکوه:(چو-که-وه)حاصل مصدر- وګورئ چوکول۔

چوکه:(چو-که)اسم- مؤنث- چیکه- چوکتار- چکه- لښته- هغه لرګے چې سر کښې ئې مېخ وی او غواګان پرې شړلے شي- عامه چوکه- چمکی- (۲)ټیکه- د ممدوانو د تندی داغ یا خال- (۳)تېرونه- غږونه- شکته کونه- (۴)لږه اندازه- کمه اندازه- دره- وړه دره- (۵)ملتمه- بېږی- مېتے- سولېدلې ګیتی- چتره بېږی- پتله بېږی- سولېدلې سهښته- (۶)تېز-

www.pukhto.net

(۷)ارمکی-

چوکه:(چو-که)اسم- مؤنث- (۱)د هندوانو د خوراک دونکاچه-

چوکه:(چو-که)اسم- مؤنث- یو قسم خښته چې د عامې خښتې نه نرۍ خو پلنه وي، د بټۍ د خښتو نه علاوه د سمټو او چونې نه هم جوړولے شي-

چوکه:(چو-که)اسم- د کاڼو، شولو یا بل څۀ تخم چې په لاس په لوړه فاصله کښې کرلے شي- تپه-

چوکه:(چو-که)اسم- مؤنث- (۱)ړکے- پتیره- لړے- (۲)چونګے- تاکي- چونګ-

چوکه:(چو-که)اسم- مؤنث- د کرکټ په لوبه کښې هغه ګوزار چې بری بال په کړړه د بونډرۍ لاین نه واوړي- څلور نمبري- څلور منډې- جمع چوکې-

چوکه پوکه:(چو-که-پو-که)اسم مرکب- چیږ چاړ- پچموزي- مخول بازي- جمع چوکې پوکې

چوکه ویش:(چو-که-ویش)اسم د زمکې په لښته ویش-

چوکي:(چو-کي)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چاقو-

چوکۍ:(چو-کۍ)اسم- مؤنث- چوکه- لښته-

چوکی چوکی:(چو-کی-چو-کی)اسم صفت- کم کم- لږ لږ- ذره ذره- کم کیز- کم او چونګ مرچونګ ورکول-

چوکیدار:(چو-کی-دار)اسم- واحد- مذکر- محافظ- پهره دار- پیره دار- ساتونکے- ژغورونکے- څوکیدار-

چوکیداري:(چو-کی-دا-ري)اسم- مؤنث- پیره داري- څوکیداري-

چو کېدل:(چو-کې-دل)مصدر لازم- د اوښ کښېناستل- خې کېدل- سمبدل- په ګوړو کېدل- په څلورو کېدل-

چوکېدل:(چو-کې-دل)مصدر لازم- په ذوق برابرېدل- څۀ کار د چا د خواهش مطابق سر ته رسېدل- برابرېدل- ښۀ کېدل- بهترېدل-

چو کېدن:(چو-کې-دن)حاصل مصدر- وګورئ چو کېدل-

چوکېدن:(چو-کې-دن)حاصل مصدر- وګورئ چوکېدل-

چو کېدنګ:(چو-کې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چو کېدل-

چوکېدنګ:(چو-کې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ چوکېدل-

چو کېدنه:(چو-کې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ چو کېدل-

چوکېدنه:(چو-کې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ چوکېدل-

چو کېدونکے:(چو-کې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چو کېدونکي- مؤنث چو کېدونکې- وګورئ چو کېدل-

چوکېدونکے:(چو-کې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع چوکېدونکي- مؤنث چوکېدونکې- وګورئ چوکېدل-

چو کېدۀ:(چو-کې-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ چو کېدل-

چوکېدۀ:(چو-کې-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ چوکېدل-

چوکۍ:(چو-کۍ)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)څوکۍ- کرسي- پېړۍ- د لرګي نه جوړه د ناستې پېړۍ- (۲)د مقیرانو زیارت ته تلل- زیارت ته تلل- (۳)د پهره دارو ځای- څوکۍ- تهانه- مورچل- رسمي چوکۍ- مقام- منصب-

چوکۍ:(چو-کۍ)اسم- مؤنث- (۱)د مرزانو د نیولو دام- بلبره- دام-بولاره-

چوکے:(چو-کے)اسم تصغیر- لږ کوټی- ټکوټی- کم- لږ- ذره- چوک-

چوګان:(چو-ګان)اسم- واحد جمع- مذکر- (۱)یو قسم لوبه- چوکه- اسپ دبنه- پنډه- اپری کاکبش- (۲)اسپ انډي- (۳)ړي- لو- چمچاکے-

چوګان:(چو-ګان)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه لوبه چې پکښې لوبغاړي په اسونو سواره وي او د اوږدو لرګو په مدد سره پندوس د یو ملګ ګول ته وړي- پولو- نېزه بازي- ساکه- اس پندوس (۲)د پندوس وهلو لرګے-

چوګان بازي:(چو-ګان-با-زي)اسم- نېزه بازي- د سانګې لوبه- د اس پندوس لوبه- د چوګان لوبه- (۲)ړي بازي- لو- چمچاکے-

چوګل:(چو-ګل)اسم- دمون- جوف کول-

چوګله:(چو-ګنـ-له)اسم- مؤنث- وګورئ چارسو-

چول:(چول)اسم- واحد- مذکر- (۱)خالي مېدان- تښتي مېدان- (۲)بیابان- ډاګه- پاګه- پیکلچه- چاړه- شاړه زمکه- میره- صحرا- دشته- بېدیا- (۳)د نارینه آله تناسل-

چول:(چه-ول)مصدر متعدي- ماتول- درز پیدا کول- چاود جوړول- چاود راوستل- په مینځ چول- دوه پرته کول- لرګے چول- دړې کول- مېلول- د پو سخت او کلک څیز شلول- څیرل-

چول:(چول)اسم- واحد- مذکر- د دروازې چوړ- د دروازې چونډ- د ورچوړ- چوړ-

حرام خور:(ح-رام-خور)اسم صفت- واحد- مذکر- پهٔ ناجائزه طريقه پېسې حاصلونکے- حرام خوړونکے-

حرام خوري:(ح-رام-خو-ري)اسم- مؤنث- حرام څيزونه خوړنه- پهٔ حرامه طريقه پېسې پېدا کونه-

حرام زادګي:(ح-رام-زاد-ګي)اسم- مؤنث- (۱)د خپل مالک خبره نهٔ منل- (۲)ټګي کول- چل ول کول- غلطي- فريبکاري-

حرام زاده:(ح-رام-زا-ده)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ارامونے- حرامونے- هغه څوک چې د دهٔ د پېدا کېدو نه مخکښې مور يې چاسره زنا کړې وي- (۲)ټګي ژن- چل باز-

حرام کار:(ح-رام-کار)اسم صفت- حرام کارونه کونکے- زنا کار-

حرام کاري:(ح-رام-کا-ري)اسم- مؤنث- حراميتوب- بد کاري- رسوا کول- بدنامول- د چا عزت اخستل- ناجائز تعلق- پهٔ حرامه توګه د چا سره بد کاري کول- ناجائزه تعلق ساتل-

حرام مغز:(ح-رام-مغز)اسم- واحد- مذکر- (۱)د ملا د تير مازغه- (۲)د چا يا د څهٔ څيز ډېر اهم کردار-

حرامنه:(ح-را-منـ-نه)اسم صفت- واحد- مؤنث- د حرامي مؤنث- بې تميزه او خرابه ښځه-

حراموالے:(ح-رام-وا-لے)اسم- وګورئ حرامتوب-

حرامول:(ح-را-م-وَل)مصدر متعدي- منع کول- حرام ګرځول- بندول- ناجائز کول-

حرامون:(ح-را-م-ون)حاصل مصدر- وګورئ حرامول-

حرامونکے:(ح-را-م-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ حرامول-

حرامونګ:(ح-را-م-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ حرامول-

حرامونه:(ح-را-م-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ حرامول-

حرامونے:(ح-را-مو-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ حرامي- مؤنث حراموني-

حراموهٔ:(ح-را-م-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ حرامول-

حرامي:(ح-را-مي)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)حرامونے- ارامي- ولدالزنا- د زنا پېدا- پهٔ غلطه طريقه پېدا شوے- حرام زاده- (۲)غل- شېطان- ورانکارے- بدمعاش-

حراميتوب:(ح-را-مي-توب)اسم- (۱)بدکاري- حرام زاده توب- بې خوندي- ورانکاري- لوچه توب- سپکاره-

حرامېدل:(ح-را-مې-دَل)مصدر لازم- منع کېدل- ناروا کېدل- بندېدل-

حرامېدن:(ح-را-مې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ حرامېدل-

حرامېدنګ:(ح-را-مې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ حرامېدل-

حرامېدنه:(ح-را-مې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ حرامېدل-

حرامېدونکے:(ح-را-مې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ حرامېدل-

حرامېدهٔ:(ح-را-مې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ حرامېدل-

حراند:(ح-راند)اسم صفت- واحد- مذکر- يرمن- ويرندوکے-

حرب:(حَرب)اسم- واحد- مذکر- (۱)جنګ- جګړه- (۲)مقدمه- (م- عربي)-

حربه:(حر-به)اسم- واحد- مؤنث- چل- تدبير- طريقه- د غرض او مقصد حاصلولو ذريعه- (۲)وسله- اسلحه- (م- عربي)-

حربي:(حر-بي)صفت- حرب سره منسوب-

حربيه:(حر-بي-يه)اسم- واحد- مؤنث- د جنګ جګړې- حربي-

حرج:(ح-رج)اسم- واحد- مذکر- (۱)تنګسه- نقصان- ضرر- زحمت- مشکل- (۲)تنګ خائې- (م- عربي)-

حرص:(ح-رص)اسم- واحد- مذکر- لالچ- طمع- د هر څيز د حد نه زياته غوښتنه- (م- عربي)-

حرصناک:(ح-رص-ناک)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ حارص- مؤنث حرصناکه- (م- عربي)-

www.pukhto.net

حرصي:(ح-رڅصي)اسم صفت- واحد- مذکر- لالچي- حرص کونکے- حرصناک- (م- عربي)-

حرف:(حَرف)هغه کلمه چي نهٔ اسم وي او نهٔ فعل وي- خو چي دَ بلې کلمې سره يو ځايْ شي نو معنيٰ پيدا کوي- خالته معنيٰ نهٔ لري- مثلاً- اب-ج-د وغيره- جمع حرفونه- (م- عربي)-

حرف پهٔ حرف:(حَرف-پهٔ-حَرف)متعلق فعل- ټکي پهٔ ټکي- لفظ پهٔ لفظ-

حرف ګير:(حَرف-ګير)اسم صفت- واحد- مذکر- عيب جو- نقاد- نکته چين-

حرف ګيري:(حَرف-ګي-ري)اسم- نکته چيني- تنقيد- ګنه نيونه- کتنه-

حرفه:(حَر-فه)اسم- واحد- مؤنث- پېشه- کار کسب- چاره- مسلک-

حرکت:(حَ-رَ-کَت)اسم- واحد- مذکر- خوځېدنه- رقېدنه- ښورېدنه- جوېته- دَ سکون ضد-

حرم:(حَ-رَم)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ کعبې شريفې دننه برخه- دَ کعبې خواوشا- (۲)دَ کور دننه برخه- انګړ- انګڼ- غولے- (۳)منع کړے شوے ځايْ- (۴)کهول- بال بچ- اولاد- عيال- (م- عربي)-

حرمت:(حُر-مَت)اسم- واحد- مذکر- (۱)عزت- لحاظ- خيال ساتنه- مقدس ګڼنه- (۲)حرامېدنه- ناروا کېدنه-

حرم خانه:(حَ-رم-خا-نه)اسم مرکب- واحد- مؤنث- دلبار- حرم- دَ بيبيانو دَ ناستې او وسېدو ځايْ- دَ باچاهانو زنانوُ دَ وسېدو حرم- دَ پرده دارو دَ وسېدو ځايْ-

حرمين:(حَ-رَ-مين)اسم- جمع- مذکر- مکه معظمه او مدينه منوره- (م- عربي)-

حرنو:(حَ-رَنو)اسم- وګورئ: انکار-

حروف التاج:(حُ-رو-فُت-تاج)اسم- مذکر- دَ ليک يو قسم- يو قسم ليک- (م- عربي)-

حروف چين:(حُ-روف-چين)اسم- واحد- مذکر- دَ مطبعې هغه کاريګر چي دَ کتابونو رسالو او اخبارونو مضمونه دَ توريو پهٔ وسيله ترتيبوي او چاپ ته يَ تياروي- (افغانستان)-

حروف تهجي:(حُ-رو-فِ-تَ-هَج-جي)اسم- دَ يوې ژبې بنيادي حرفونه چي دَ يو بل سره يو ځايْ شي نو توري ترې جوړ شي او دَ دې پهٔ بنياد دَ تورو هجې کولے شي- لکه ا ب ج يا دَ انګرېزي : A,B,C : وغيره-

حروف چيني:(حُ-روف-چي-ني)اسم- مؤنث- دَ حروف چين کسب-

حروفي:(حُ-رو-في)صفت- دَ حروفو- پهٔ توريو مربوط- دَ حروف سره منسوب-

حريان:(حر-يان)اسم صفت- واحد- مذکر- حېران- اريان- حيرت وړے-

حريان دريان:(حر-يان-در-يان)اسم صفت- واحد- مذکر- مؤنث حريانه دريانه- اريان دريان- اَکه بکه- حق پق- حېران- ګنه پهٔ خلهٔ-

حرياني:(حر-يا-ني)اسم- مؤنث- (۱)حېراني- (۲)عجوبه- عجيبه-

حرير:(حَ-رير)اسم- واحد- مذکر- ريښم- دَ ريښمو ټوکے- وريښمينه جامه-

حريري:(حَ-ري-ري)اسم- دَ وريښمو خرڅونکے-

حريص:(حَ-ريص)اسم صفت- واحد- مذکر- حرصناک- سرانې- وَږ ستړګې- اروا ووږے- سولند- سرلوږے- سولندک- بدسولے- سولندہ- لالچي- خېټو- کېږور- سيالي مار- مؤنث حريصه- جمع حريصان-

حريف:(حَ-ريف)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)رقيب- (۲)مخالف- (۳)سيالي کونکے-

حريق:(حَ-ريق)اسم- واحد- مذکر- سوے- لمبه- شعله- پهٔ اور سوځېدنه- اور لګېدنه- اور اخستنه-

حريم:(حَ-ريم)اسم- واحد- مذکر- هغه ځهٔ چي منع کړے شوی وي-

حربے:(حر-بے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ټونګ- (۲)دبلے-

حزب:(حِزب)اسم- واحد- مذکر- دَ قرآن پاک هغه برخه چي پهٔ يوه ورځ لستلے کېږي- (۲)ډله- پارټي-

حزبي:(حِز-بي)اسم صفت- واحد- مذکر- دَ حزب- دَ پارټۍ- دَ ډلې-

حزين:(حَ-زين)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- دلګير- خفه- غمژن- ټولژن-

حس:(حِس)اسم- واحد- مذکر- ادراک- احساس- بېداري- (۲)ضمير- (۳)حرکت- ژوند- ساه-

حساب:(حِ-ساب)اسم- واحد- مذکر- (۱)شمارنه- شمېر- شمار- (۲)دَ شمارې علم- (۳)مال- دولت- روپۍ پېسې- (۴)دَ ژوند اُربشه- (م- عربي)-

حسابداري:(حِ-ساب-دا-ري)اسم- مؤنث- دَ حساب دَ علم اُصول او قانون (کلي)-

حسابول:(حِ-سا-بو-ول)مصدر متعدي- ګڼل- شمارل- حساب کول-

حسابون:(حِ-سا-بو-ون)حاصل مصدر- وګورئ: حسابول-

حسابونکے:(حِ-سا-بو-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ: حسابول-

حسابونګ:(حِ-سا-بو-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ: حسابول-

حسابونه:(حِ-سا-بو-ونه)حاصل مصدر- وګورئ: حسابول-

حسابوهٔ:(حِ-سا-بو-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ: حسابول-

حسابي:(حِ-سا-بي)صفت/متعلق فعل- دَ حساب- حساب ته منسوب-

حسابېدل:(حِ-سا-بې-دَل)مصدر لازم- پهٔ شمېر کښې راوستل- حساب کېدل- شمېرل-

حسابېدن:(حِ-سا-بې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ: حسابېدل-

حسابېدنګ:(حِ-سا-بې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ: حسابېدل-

حسابېدنه:(حِ-سا-بې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ: حسابېدل-

حسابېدونکے:(حِ-سا-بې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ: حسابېدل-

حسابېدهٔ:(حِ-سا-بې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ: حسابېدل-

حسادت:(حَ-سا-دت)اسم- واحد- مذکر- حسد- کينه- بُغض- (م- عربي)-

حساس:(حَ-ساس)(حس-ساس)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)نازک مزاجه- (۲)زر پوهېدونکے- تېز حس لرونکے- دهين- (م- عربي)-

حساسيت:(حَ-سا-سي-يت)اسم- حساس توب- حساس تيا-

ئ- (ئي-رل)، ـې(ئي-رهـ-وڵ)، ـے(ېيا-لي)، ـۍ(تن-ډيې) تفصيل دَ پاره وګورئ: تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

حسام:(حُ-سام)(حُس-سام)اسم- واحد- مذکر- توره- تېره توره- (م- عربي)-

حسب:(حَ-سَب)اسم- واحد- مذکر- (۱)وقار- شرف- عظمت- (۲)خانداني لوئ والے- (۳)ټبر- حسب نسب- ذات زوريات- اصل نسل- نوغے- جروه- شجره- (۴)مطابق- برابر- سم- (م- عربي)-

حسب:(حسب)اسم- واحد- مذکر- (۱)شمېرنه- ګڼنه- (۲)کفايت- بسوالے- (م- عربي)-

حسد:(حَ-سَد)اسم- واحد- مذکر- بُغض- کينه- رخه- (م- عربي)-

حسرت:(حَس-رَت)اسم- واحد- مذکر- (۱)ارمان- افسوس- (۲)ارمان کونه- افسوس کونه- (م- عربي)-

حُسن:(حُ-سن)اسم- واحد- مذکر- (۱)ښکلا- ښائست- جمال- (م- عربي)-

حسن:(حَ-سَن)اسم- واحد- مذکر- (۱)ښکلے- ښائسته- (۲)نېک- ښۀ- (م- عربي)-

حسنات:(حَ-سَ-نات)اسم- جمع- مذکر- دَ خېر ښېګړې او نېکي کارونه- نېکي- ښېګړې-

حسن تعليل (حُس-ن-تع-ليل)اسم- دَ شاعر دَ محبوب يا دَ چا دَ صفت کولو په وخت شعر کښې مناسب علت استعمالول- (م- عربي)-

حسن خط:(حُس-ن-خط)اسم- ښکلے او تومورے خط چې دَ کتابت دَ اُصولو په معيار پوره وي-

حسن خلق:(حُس-ن-خُلق)اسم- واحد- مذکر- ښۀ، نېک او پاک خوئ- ښۀ اخلاق- (م- عربي)-

حسن مقطع:(حُس-ن-مق-طع)اسم- کله چې شاعر خپل کلام په زړۀ راکښونکو الفاظو سره بې لۀ ښۀ شرطه قطع کړي-

حسن نظر:(حُس-ن-نَ-ظر)اسم- نېک نظر- ښۀ نظر- پېرزوينه-

حسن نيت:(حُس-ن-نيت)اسم- پېرزوينه- ښۀ نيت- (م- عربي)-

حسنه:(حَ-س-نه)اسم- واحد- مؤنث- سېکړه- نېکي- (م- عربي)-

حسود:(حَ-سُود)اسم صفت- واحد- مذکر- حاسد- کينه ور- بُغضي- (م- عربي)-

حسول:(حِ-سَ-ول)مصدر متعدي- احساس کول- محسوسول- په خيال کښې راوستل-

حسون:(حِ-سَ-ون)حاصل مصدر- وګورئ حسول-

حسونکے:(حِ-س-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ حسول-

حسونګ:(حِ-سَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ حسول-

حسونه:(حِ-س-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ حسول-

حسوۀ:(حِ-سَ-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ حسول-

حسي:(حِ-سي)اسم صفت- واحد- مذکر- دَ حس- دَ درک- دَ پوهې-

حسيب (حَ-سيب)اسم صفت- واحد- مذکر- شمېرونکے- ګڼونکے- محاسب- حاسب کونکے-

حسېدل:(حِ-سې-دل)مصدر لازم- احساس کېدل- حس کېدل- پوهېدل-

حسېدلے:(حِ-سې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع حسېدلي- مؤنث حسېدلې- وګورئ حسېدل-

حسېدن:(حِ-سې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ حسېدل-

حسېدنګ:(حِ-سې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ حسدل-

حسېدنه:(حِ-سې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ حسېدل-

حسېدونکے:(حِ-سې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ حسېدل-

حسېدۀ:(حِ-سې-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ حسېدل-

حسين:(حَ-سين)اسم صفت- واحد- مذکر- ښکلے- ښائسته- ښيمخے- (م- عربي)-

حسيني:(حُ-سے-ني)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- (۱)دَ حسين عليه السلام سره منسوب- (۲)سور او ګلابي- (۳)يو قسم انګور-

حشر:(حَ-شر)اسم- واحد- مذکر- (۱)ګڼه ګوڼه جوړونه- راټولونه- راغونډونه- (۲)پاڅونه- پنځ- پنځے- (۳)شور- غوغا- (۴)دَ حشر ورځ- قيامت- دَ جزا ورځ- (م- عربي)-

حشر نشر:(حَ-شر-نَ-شر)اسم- واحد- مذکر- (۱)حشر- ګڼه ګوڼه- ډېر زيات خلق- (۲)شور غالۀ- شور شغرب- (م- عربي)-

حشره:(حَ-ش-ره)اسم- واحد- مؤنث- ملخ- چينجے- کيږے- ماشے- مېږے- مچ وغېره- جمع حشرات،حشرې- (م- عربي)-

حشم:(حَ-شم)اسم- واحد- مذکر- (۱)اهل وعيال- خاندان- (۲)نوکر- ملازم-

حشمت:(حش-مت)اسم- واحد- مذکر- دبدبه- عظمت- شان وشوکت- رعب داب- جاه وجلال- (م- عربي)

حصار:(حِ-صار)اسم- واحد- مذکر- قلعه- کوټ- قلا- (م- عربي)-

حصار (حِ-صار)اسم صفت- واحد- مذکر- ايسار- محاصره شوے- کله بند- قلعه بند- بند- ګېر راګېر- معطل- (م- عربي)-

حصارول:(حِ-صا-رَ-ول)مصدر متعدي- محاصره کول- ايسارول- اټالول- بندول-

حصارون:(حِ-صا-رَ-ون)حاصل مصدر- وګورئ حصارول-

حصارونکے:(حِ-صا-رَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ حصارول-

حصارونګ:(حِ-صا-رَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ حصارول-

حصارونه:(حِ-صا-رَ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ حصارول-

حصاروۀ:(حِ-صا-رَ-وۀ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ حصارول-

حصارېدل:(حِ-صا-رې-دَل)مصدر لازم- محاصره کېدل- ايسارېدل- اټالېدل-

حصارېدن:(حِ-صا-رې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ حصارېدل-

حصارېدنګ:(حِ-صا-رې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ حصارېدل-

حصارېدنه:(حِ-صا-رې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ حصارېدل-

حصارېدونکے:(حِ-صا-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ

زبر"(ح-بـ-ـر-ه)، زورکے"(شل)، پېش"(تو-کا-ره)، زېر"(کـ-تـاب)، جزم"(شکون)، ۀ"(ز-ړه)، ۀ"(پو-ېې-دۀ)

www.pukhto.net

حصارېدل۔

حصارېدهٔ:(ح۔صا۔رې۔دهٔ)حاصلِ مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب میغه۔ وګورئ حصارېدل۔

حصر:(حَ۔صَر)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ ګېرونه۔ بندونه۔ تنګونه۔ محدودونه۔ احاطه کونه۔ (م۔ عربی)۔

حصول:(حُ۔صول)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ حاصلونه۔ لاس ته راوستنه۔

حصولول:(حُ۔صُو۔لـه۔وَل)مصدرِ متعدی۔ حاصلول۔ لاس ته راوستل۔ تر لاسه کول۔

حصولون:(حُ۔صُو۔لـه۔وُن)حاصلِ مصدر۔ وګورئ حصولول۔

حصولونکے:(حُ۔صُو۔لـه۔وُون۔کے)اسمِ فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ حصولول۔

حصولونګ:(حُ۔صُو۔لـه۔ونګ)حاصلِ مصدر۔ وګورئ حصولول۔

حصولونه:(حُ۔صُو۔لـه۔وُ۔نه)حاصلِ مصدر۔ وګورئ حصولول۔

حصولوهٔ:(حُ۔صُو۔لـه۔وهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب میغه۔ وګورئ حصولول۔

حصولېدل:(حُ۔صُو۔لې۔دَل)مصدرِ لازم۔ تر لاسه راتلل۔ حاصلېدل۔

حصولېدلے:(حُ۔صُو۔لې۔دَه۔لے)اسمِ مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ حصولېدل۔

حصولېدن:(حُ۔صُو۔لې۔دَن)حاصلِ مصدر۔ وګورئ حصولېدل۔

حصولېدنګ:(حُ۔صُو۔لې۔دَنګ)حاصلِ مصدر۔ وګورئ حصولېدل۔

حصولېدنه:(حُ۔صُو۔لې۔دَ۔نه)حاصلِ مصدر۔ وګورئ حصولېدل۔

حصولېدونکے:(حُ۔صُو۔لې۔دُون۔کے)اسمِ فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ حصولېدل۔

حصولېدهٔ (حُ۔صُو۔لې۔دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب میغه۔ وګورئ حصولېدل۔

حصه:(حِ۔صه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ برخه۔ بخره۔ ونډه۔ حق۔ ابره۔ جمع حصې۔

حصه دار:(حِ۔صه۔دار)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ برخه لرونکے۔ حصه لرونکے۔

حصه داری:(حِ۔صه۔دا۔ري)اسم۔ مؤنث۔ انډی والی۔ حصه لرنه۔ شراکت داری۔

حصیر:(حَ۔صِیر)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ بوریا۔ انوبرے۔ پوزے۔

حضرت:(حض۔رت)کلمه۔ د احترام او عزت کلمه۔

حضور:(حُ۔ضور)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)موجودګی۔ حاضری۔ محامخ۔ (۲)جناب۔ حضرت۔

حضوری:(ح۔ضو۔ری)اسم۔ مؤنث۔ محامخ۔ د حضور۔

حظ:(حظ)اسم۔ مره۔ دانقه۔ لذت۔ (احستل مصدر)۔

حفاظت:(ح۔فا۔ظت)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ احتیاط۔ ساتنه۔ پهٔ نظر کښې ساتنه۔ نګرانی۔

حفاظتی:(ح۔فا۔ظ۔تي)صفت/متعلق فعل۔ (۱)د ساتنې۔ دَ حفاظت۔ دَ حراست۔ (۲)امنیتی۔

حفر:(ح۔فر)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)کنده۔ ژورونه۔ کنستنه۔ (۲)پلټونه۔ د آثار قدیمه پلټنه یا لټونه۔ (م۔ عربی)۔

حفظ:(حفظ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)حافظې ته سپارنه۔ پهٔ یاد کونه۔ یادونه۔ (۲)ساتنه۔ (م۔ عربی)۔

حفظ الصحه:(حِف۔ظص۔ص۔حه)اسم۔ مؤنث۔ دَ صحت ساتنه۔ روغتیا پالنه۔ روغتیا ساتنه۔ (م۔ عربی)۔

حفظ ماتقدم:(حِف۔ظ۔ما۔ت۔قد۔دم)اسم۔ مذکر۔ د اول نه د ځان ساتنې تدبیر۔ د یوې پېښې د پېښېدو مخه نیونه۔ د مخکښې نه حفاظت۔ (م۔ عربی)۔

حفظیه:(حِف۔ظي۔يه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ دَ ساتلو ځایَ۔ (۲)حفاظت۔ ساتنه۔ (م۔ عربی)۔

حفید:(ح۔فید)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دَ زوئ زوئ۔ نمسے۔ نوسے۔ دَ نمسی نه بنکته رشته۔ (م۔ عربی)۔

حفیظ:(ح۔فیظ)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)دَ الله پاک دَ نومونو نه یو نوم۔ (۲)ساتونکے۔ ساتندوئے۔ (م۔ عربی)۔

حق:(حق)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)فرض۔ ذمه واری۔ (۲)انصاف۔ عدل۔ دیانت۔ (۳)برخه۔ حصه۔ صله۔ مزدوری۔ (۴)منصب۔ اختیار۔ (۵)رښتیا۔ حقیقت۔ (۶)باب۔ نسبت۔ (م۔ عربی)۔

حق:(حق)صفت۔ (۱)دَ الله پاک یو صفتی نوم۔ (۲)رښتونے۔ رِِ۔ سم۔ جوګه۔ لائق۔ صحیح۔ درست۔ ټیک۔ جائز۔ دَ باطل ضد۔ (م۔ عربی)۔

حقارت:(حَ۔قا۔رَت)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ سپکاوے۔ سپکوالے۔ پهٔ سپک نظر کتنه۔ (م۔ عربی)۔

حق الاجاره:(حَق۔قُل۔اجا۔ره)اسم۔ دَ ایجارې حق۔ غله دانه یا تنخوا شوي روپۍ چې اجاره دار ته اخستے شی۔ (م۔ عربی)۔

حق الانحصار:(حَق۔قُل۔ان۔ح۔صار)اسم۔ دَ انحصار حق۔ دَ انحصار امتیاز۔ (م۔ عربی)۔

حق الارحمت:(حَق۔قُل۔ز۔ح۔مَت)اسم۔ وګورئ حق الزحمه۔ (م۔ عربی)۔

حق الرحمه:(حَق۔قُل۔ز۔ح۔مه)اسم۔ مزدوری۔ دَ کار اُجرت۔ (م۔ عربی)۔

حق العبد:(حق۔قُل۔ عَبد)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دَ انسان پهٔ بل حق۔ انسانی حق۔

حق العبور:(حَق۔قُل۔عُ۔بُور)اسم۔ مذکر۔ محصول۔ چونګے۔ (م۔ عربی)۔

حق الله:(حَق۔قُل۔لاه)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ هغه حق چې دَ الله دَ طرفه متعین شوے وی۔ یعنی دَ الله پاک عبادت۔ (م۔ عربی)۔

حقانه:(حق۔قا۔نه)متعلق فعل۔ واحد۔ مذکر۔ پهٔ حقه۔ پهٔ رښتیا۔

حقانی:(حق۔قا۔ني)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ رښتونے۔ پهٔ حقه۔ حق ته منسوب۔ ټیک۔

حقانیت:(حق۔قا۔ني۔يت)اسم۔ رښتیا والے۔ حق والے۔ رښتین توب۔

حقائق:(ح۔قا۔ئق)اسم۔ جمع۔ مذکر۔ حقیقتونه۔ د حقیقت جمع۔

حق بحانب:(حق۔به۔جا۔نب)صفت۔ مذکر۔ پهٔ حق۔ ټیک۔ حق خوا ته۔

ی (خې۔رل) ي(هې۔ره۔ول)، ې(پیا۔لې)، ے(تن۔دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

حق بین:(حق-بین)اسم صفت- واحد/جمع- مذکر- ریشتیا ویونکے- د حق ویونکے- بالنصاف- انصاف کونکے- حق کتونکے- (م- فارسی)-

حق بینی:(حَق-بی-نی)اسم- حق لیدنه- حقانیت- حق کتنه- (م- فارسی)-

حق پرست:(حق-په-رَست)اسم صفت- واحد- مذکر- په حقه لاره روان- دَ حق او ریشتیاؤ ملګرے- (م- فارسی)-

حق پسند:(حق-په-سَند)صفت- واحد جمع- مذکر- راست باز- حق خوښونکے-

حق پوش:(حق-پوش)اسم صفت- واحد- مذکر- حق پټونکے- د حقې خبرې نهٔ بیانونکے- باطل- (م- فارسی)-

حق تلفی:(حَق-تل-فی)اسم- واحد- مؤنث- دَ چا حق وهنه- دَ حق نه سترګې پټونه- استحصال- (م- فارسی)-

حق حلال:(حَق-ح-لال)اسم صفت (مرکب)- حلال حلال- جائز- پهٔ روا- چې هېڅ ناجائز او ناروا پکښې نهٔ خائیږی- سوچه حلال-

حق حېران:(حَق-حې-رانّ)اسم صفت- واحد/جمع- مذکر- اکه پکه- حق پق- حېران دریان- اریان دریان-

حق دار:(حَق-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- مستحق- حق لرونکے- دَ حق خاوند- حقمن- (م- فارسی)-

حقداری:(حق-دا-ری)اسم- مؤنث- حق لرنه-

حق دق:(حَق-دق)اسم صفت- واحد/جمع- مذکر- اریان دریان- اکه پکه- الق دلق- حق حېران- وار خطا- ګچو ګول-(دیر)-

حق دوست:(حَق-دوست)اسم صفت- واحد- مذکر- دَ حق طرفدار- دَ حق ملګرے- (م- فارسی)-

حق شناس:(حق-شه-ناس)اسم صفت- واحد- حق پېژندونکے- (م- فارسی)-

حق شناسی:(حَق-ش-نا-سی)اسم- مؤنث- دَ حق پېژندنه-

حق ګو:(حَق-ګو)اسم صفت- حق ویونکے- حق ګوی- (م- فارسی)-

حق ګوئی:(حَق-ګو-ئی)اسم- ریښتیا وئیله- حق وئیله-

حقمن:(حَق-مَن)اسم صفت- واحد- مذکر- وګوره حقدار- (م- فارسی)-

حق ناحق:(حَق-نا-حق)متعلق فعل- بې موجبه- وَېځ پهٔ وجه- بې دلیله- بې بنې بې بدې - ارو مرو- خوا مخوا-

حقنه:(حُ-قَ-نه)اسم- مؤنث- پچکاری کونه- دَ کُنې دَ لارې نه دَ کلمو صفا کونه-

حقوق:(حُ-قوق)اسم- جمع- مذکر- د حق جمع- (م- عربی)-

حقوقی:(حُ-قو-قی)صفت- د حق سره منسوب- دَ حق-

حقه:(ح-قه)اسم- مؤنث- لهٔ لاسه دَ ویشتلو د دارو (بارودو) کوزې-

حقه:(حَ-قه)صفت- (۱)دَ حق- (۲)قانونی- اصولی- پهٔ ځائې- (۲)دَ حق مؤنث- (م- عربی)-

حُقه:(حُ-قه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ګلور کلنے اوښ- چتر- کراټ- (۲)هغه کنده یا ږوغل چې مال دولت پکښې خوندی کولے شی- کوټے- کوټی-
دبلے- ډبلے- (۲)چیلم-

حقیر:(حُ-قیر)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)خوار- ذلیل- زبون- (۲)وړوکے- (۲)بې قیمته- بې قدره- (م- عربی)-

حقیقت:(حُ-قی-قَت)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ څهٔ څیز اصل- (۲)ریښتیا- جمع حقائق- (م- عربی)-

حقیقتا:(ح-قی-قَ-تن)متعلق فعل- پهٔ ریښتیا- واقعی- پهٔ حقیقت- پهٔ حقیقی توګه- (م- عربی)-

حقیقت بین:(ح-قی-قت-بین)اسم صفت- واحد- مذکر- حقیقت لیدونکے- د حقیقت ویخ ته رسېدونکے-

حقیقی:(حُ-قی-قی)صفت- (۱)ریښتونے- پهٔ حقه- (۲)دَ خطا ضد- (۲)دَ حکایت ضد- (م- عربی)-

حک:(حک)اسم- واحد- مذکر- (۱)توږنه- (۲)کنسته- (۲)سولونه- (م- عربی)-

حکاک:(حُ-کاک)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)مهر جوړونکے- کنستونکے- (۲)هوښیار- زیرک- (م- عربی)-

حکاکی:(حُ-کا-کی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مهر جوړونه- کیندنه-

حکایت:(ح-کا-یت)اسم- واحد- مذکر- قیصه- سرګزشت- داستان- بیان- (م- عربی)-

حک پک:(حک-پک)اسم صفت- واحد/جمع- مذکر- وګوره هک پک-

حکلی:(حک-لی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګوره هاڼکو-

حکم:(حُ-کم)اسم- واحد- مذکر- امر- اوړ- فرمان- جمع حکمونه/احکام-

حکم:(حَ-کَم)اسم صفت- واحد- مذکر- دریم ګړے- منځه ګړے- منصف- قاضی- دریمان- نیاوی- میانجی- (م- عربی)-

حکم:(ح-کم)اسم- جمع- مذکر- دَ حکمت جمع- (م- عربی)-

حکماً:(حک-من)متعلق فعل- د حکم پهٔ ذریعه- پهٔ حکم-

حکمت:(حک-مَت)اسم- واحد- مذکر- پوهه- علم- هوښیاری- (م- عربی)-

حکمتی:(حک-مَ-تی)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- هوښیار- دَ حکمت خاوند- ټګ- چل ولی- (م- عربی)-

حکمران:(حُ-کم-ران)اسم صفت- واحد- مذکر- فرمانروا- بادشاه- حکم چلونکے- (م- فارسی)-

حکمرانی:(حُ-کم-را-نی)اسم- واحد- مؤنث- بادشاهی- حکومت- حکم چلونه- اقتدار- (م- فارسی)-

حکمنامه:(حُ-کم-نا-مه)اسم- واحد- مؤنث- هغه حکم چې دَ حاکم لهٔ خوا لیکلے شوے وی- لیکلے حکم- (م- فارسی)-

حکمی:(حُکـ-می)صفت/متعلق فعل- (۱)دَ امر- دَ حکم- (۲)جبری- پهٔ زور-

حکمیت:(حَ-کَ-می-یت)اسم- واحد- مذکر- منځګړتوب- دریم ګړ والے- ثالثی- (م- عربی)-

حکومت:(حُ-کو-مَت)اسم- واحد- مذکر- (۱)اقتدار- (۲)زور- طاقت- (م- عربی)-

www pukhto net

حکومتي:(حِ-کو-مَ-تي)صفت/متعلق فعل- دَ حکومت په حقله-

حکیم:(حِ-کیم)اسم صفت- واحد- مذکر- پوه- هوښیار- (۲)طبیب- حکمت لرونکے- (م- عربي)-

حکیمانه:(حِ-کی-ما-نه)متعلق فعل- عالمانه- عاقلانه- دَ حکیم په شان-

حکیمي:(حِ-کي-مي)اسم- واحد- مؤنث- طبابت- دَ یونانی طب په رڼا کښې دَ مریضانو علاج کونه- دَ حکیم پیشه-

حل:(حل)اسم- واحد- مذکر- ګاڼه- ګېڼه- زېور-

حل:(حل)اسم- واحد- مذکر- (۱)نتیجې ته رسېدنه- (۲)واروېدنه- هوارېدنه- (۳)ویلې کېدنه- (۴)کرانه چاره اسانونه- مطومونه- (م- عربي)-

حلاج:(حِ-لاج/حَل-لاج)اسم صفت- واحد- مذکر- نندافـ- پانبوتی- پینبوتی- نداف- (م- عربي)-

حلاجي:(ح-لا-جي)اسم- واحد- مؤنث- الاجي- هغه آله دَ کومې په ذریعه چې دَ مالوچو نه دَ پومبې داني بېلولے شي یا دَ کنو نه پرې اېنه (رس) وېستلے کیږي-

حلال:(حَ-لال)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱) دَ شرعې مطابق روا- جائز- روا- پاک- دَ حرام ضد- (۲)دَ خوراک جوګه- (م- عربي)-

حلال:(حَ-لال)اسم صفت- واحد- مذکر- پرانستونکے- خلاصونکے- دَ غوټې پرانستونکے- (م- عربي)-

حلال:(ح-لال)اسم صفت- واحد- مذکر- ذبحه- چې مرۍ يې غوڅه شي-

حلال خور:(ح-لال-خور)اسم صفت- واحد- مذکر- حلالي- چې حلال او په خپلو متو ګټلے رزق خوري- دَ حرام ضد- مؤنث حلال خوره- جمع حلال خواره-

حلالول:(حِ-لا-ل-ول)مصدر متعدي- روا کول- جائزول- (۲)ذبحه کول-

حلالون:(حِ-لا-ل-ون)حاصل مصدر- وګورئ حلالول-

حلالونکے:(حِ-لا-ل-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ حلالول-

حلالونګ:(حِ-لا-ل-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ حلالول-

حلالونه:(حِ-لا-ل-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ حلالول-

حلالوهٔ:(حِ-لا-ل-وهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ حلالول-

حلاله:(ح-لا-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)حلالکه- ذبحه- قصابي کونه- ونډې- (۲)په شرعي طریقه په چاړهٔ چرګې وغیره ذبحه شوے خناور- (۳-صفت)دَ حرامه ضد- جمع حلالې-

حلالي:(ح-لا-لي)اسم صفت- واحد- مذکر- حلالونے- هغه اولاد چې دَ نر او ښځې دَ شرعي نکاح لهٔ تړلو وروستو پیدا شوے وي- دَ حرامي ضد (۲)صالح- نېک عمله- جمع حلاليان- مؤنث حلالئه-

حلالېدل:(حِ-لا-لې-دَل)مصدر لازم- (۱)روا کېدل- روا ګڼل- (۲)ذبحه کېدل-

حلالېدن:(حِ-لا-لې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ حلالېدل-

حلالېدنګ:(حِ-لا-لې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ حلالېدل-

حلالېدنه:(ح-لا-لې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ حلالېدل-

حلالېدونکے:(حِ-لا-لې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ حلالېدل-

حلالېدهٔ:(حِ-لا-لې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ حلالېدل-

حلاوت:(ح-لا-وت)اسم- مؤنث- خوږ والے- خوږښت- شیریني- (م- عربي)-

حلزون:(حل-زون)اسم- واحد- مذکر- بیا- ګوګ- دَ سپرلي يو خاص قسم چینجے-

حلف:(حلف)اسم- واحد- مذکر- قسم خوړنه- قسم- سوګند- عهدو پیمان- لوړه- لوړ- (م- عربي)-

حلف نامه:(حلف-نا-مه)اسم- واحد- مؤنث- هغه کاغذ چې پرې حلف لیکلے وي- جمع حلف نامې-

حلفي:(حل-في)صفت- قسمیه- حلفیه-

حلفیه:(حل-في-یه)صفت- قسمیه- حلفي- په قسم سره-

حلق:(حلق)اسم- واحد- مذکر- ساڼو- سونے- مرۍ- (م- عربي)-

حلق دلق:(حلق-دلق)اسم صفت- فکرمند- حېران- پرېشان-

حلقوم:(حل-قوم)اسم- واحد- مذکر- دَ خلې او معدې تر مېنځه دَ پوړی نالی- سره غاړه- وچه غاړه- (م- عربي)-

حلقوي:(حل-ق-وي)اسم صفت- الفه پوله- دَ حلقې- دَ کړۍ-

حلقه:(حل-قه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کړۍ- الفه- دائره- هاله- چکر- (۲)لومه- (۳)ګروپ- غنډه- ټولګے- جمع حلقې- (م- عربي)-

حلقه بګوش:(حل-قه-ب-ګوش)صفت- (۱)هغه غلام چې په غوږ کښې به يې یوه مخصوصه منډری اچوله- (۲)تابعدار- غلام- فرمانبردار- (م- فارسي)-

حلم:(ح-لم)اسم- واحد- مذکر- تیرلے- بیو بیړګ-

حلم:(حلم)اسم- واحد- مذکر- زغم- حوصله- همت- بردباري- صبر- نرمي- تحمل-

حلوا:(حل-وا)اسم- واحد- مؤنث- سوجي یا ناشیسته چې په غوړیو کښې سره کړے شي- يو شرین خوراک- (۲- صفت)نرم او پوست کار- (۳)اسان کار- جیت پیت شوے- (م- عربي)-

حلوان:(حل-وان)اسم- واحد- مذکر- چېلوکے- چېلے- (د حلان غلط العام)-

حلواني:(حل-وا-ني)اسم صفت- واحد- مذکر- حلوا یا مټهائي جوړونکے- رویبوال- الواني- جمع حلوایان-

حلول:(ح-ل-ول)مصدر متعدي- (۱)څه مسئله نتیجې ته رسول- (۲)ویلې کول- حل کول- (افغانستان)-

حلول:(حِ-لول)اسم- (۱)څه ځای ته ننوتل- داخلېدل- (۲)هېل کېدل- (۳)ښکاره کېدل- راڅـرګندېدل- (افغانستان)-

حلون:(ح-ل-ون)حاصل مصدر- وګورئ حلول-

حلونکے:(ح-ل-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ حلول-

حلونګ:(ح-ل-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ حلول-

www.pukhto.net

حلونه:(حَ-ل-وڼ-نه)حاصل مصدر- وګورئ حلول-

حلوهٔ:(حَ-ل-وهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري دٔ واحد غائب صيغه- وګورئ حلول-

حليف:(حَ-ليف)اسم صفت- واحد- مذکر- ملګرے- دوست- (م- عربي)-

حليم:(حَ-ليم)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)زغمونکے- دٔ لوئ سينې خاوند- زغمونے- صبرناک- نرم- خوږ- (۲)د الله پاک يو صفتي نوم- (م- عربي)-

حليم:(حَ-ليمْ)اسم- واحد- مذکر- يو قسم خوراک چې لۀ اوړو او غوښې نه جوړيږي- اړيسه- (م- عربي)-

حليمي:(حَ-لي-مي)صفت- (۱)حليم سره متعلق- (۲)شفقت- رحمت- مينه-

حليه:(حِل-يه)اسم- شکل- څېره- بشره- (م- عربي)-

حلېدل:(حَ-لې-دَل)مصدر لازم- (۱)فيصله کېدل- پۀ نتيجه رسېدل- (۲)ويلي کېدل- (۳)حل کېدل-

حلېدلے:(حَ-لې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ حلېدل-

حلېدن:(حَ-لې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ حلېدل-

حلېدنګ:(حَ-لې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ حلېدل-

حلېدنه:(حَ-لې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ حلېدل-

حلېدونکے:(حَ-لې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ حلېدل-

حلېدهٔ:(حَ-لې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري دٔ واحد غائب صيغه- وګورئ حلېدل-

حماست:(ح-ما-ست)اسم- واحد- مذکر- زړورتيا- دلاوري- شجاعت- (م- عربي)-

حماسي:(حَ-ما-سي)صفت/متعلق فعل- دٔ زړورتوب- دٔ شجاعت- دٔ بهادري- (م- عربي)-

حماقت:(حَ-ما-قت)اسم- واحد- مذکر- بې عقلي- ساده توب- کم عقلي- ناپوهي- (م- عربي)-

حمال:(حَ-مال)اسم صفت- واحد- مذکر- پېټي- بار وړونکے- جوالي- مزدور- (م- عربي)-

حمام:(حَ-مام)اسم- واحد- مذکر- دٔ لمبلو ځاے- هغه ځاے چې دٔ لمبلو دٔ پاره پکښې تودې او سړې اُبۀ وي- (م- عربي)-

حمامي:(حَ-ما-مي)اسم صفت- واحد- مذکر- پۀ حمام کښې دٔ خلقو دٔ جامو او نورو څيزونو څوکيدار- دٔ حمام مالک-

حمايت:(حِ-ما-يَت)اسم- واحد- مذکر- ننګه- دفاع کونه- ساتنه- دٔ چا پۀ حق کښې خبره کونه- مرسته- (م- عربي)-

حمايتي:(حِ-ما-يَه-تي)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- حمايت کونکے- مرستيال- مرسته کونکے- (م- عربي)-

حمائل:(ح-ما-ئل)اسم- واحد- مذکر- (۱)پۀ غاړه کښې دٔ اچولو شے- اوږي- د زنانو د غاړې يو کالے- (۲)وړوکے قرآن مجيد چې پۀ سفر کښې پۀ غاړه کښې اوېراند وي- پۀ غاړه کړے شوے تعويذ- (م- عربي)-

حمايه:(حِ-ما-يه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ حمايت-

حمد:(حمد)اسم- واحد- مذکر- ستائينه- صفت- دٔ الله تعالىٰ ثنا صفت بيانونه- (م- عربي)-

حمل:(حَ-مل)اسم- واحد- مذکر- (۱)بلاربوالے- (۲)بار- بوج- (م- عربي)-

حمل:(حَ-مَل)اسم- واحد- مذکر- دَ هجري شمسي کال وړومبې مياشت- دٔ ۲۱ مارچ نه تر ۲۰ اپرېل پورې- د حوت او ثور تر مينځ مياشت- وږے- (م- عربي)-

حمل ونقل:(حَم-لو-نَ-قل)اسم- واحد- مذکر- دٔ تګ را تګ وسيلې- ټرانسپورټ-

حمله:(حم-له)اسم- واحد- مؤنث- يرغل- چپاو- بريد- غرځنګ- اېه- تعرض-

حميت:(حِ-مي-يَت)اسم- واحد- مذکر- غيرت- ننګ- خوامردي- مړانه-

حميت مند:(حِ-مي-يَت-مَند)اسم صفت- واحد- مذکر- غيرتمند- ننګيالے-

حميد:(حَ-ميد)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)غوره- (۲)ستائيلے- مؤنث حميده-

حميم:(حَ-ميم)صفت- (۱)ګرم- تود- (۲)دوست- (م- عربي)-

حمېل:(حَ-مېل)اسم- واحد- مذکر- امېل- امبېل- هار- جمع حمېلونه- (م- عربي)-

حنا:(حِ-نا)اسم- واحد- مؤنث- نکريزې- (م- عربي)-

حنائي:(حِ-نا-ئي)صفت- پۀ نکريزو لړلې- پۀ نکريزو سرې- زيږ بخن سور- د نکريزو سره متعلق-

حنبلي:(حَم-بَ-لي)اسم صفت- واحد- مذکر- دٔ امام حنبل صاحب پېروکار-

حنجره:(حَن-جَ-ره)اسم- واحد- مؤنث- مرۍ- کومے- حلق- غاړه- (م- عربي)-

حنظل:(حن-ظَل)اسم- واحد- مذکر- کاکوړه- مرغونې- منفونې- نباتاتي نوم- کوکوس کولو سنتهس (CITRULLUS COLOCYNTHIS)-

حنفي:(حَ-نَ-في)صفت- د امام ابوحنيفهٔ صاحب پېروکار- دٔ حنفئ مسلک- (م- عربي)-

حنيف:(حَ-نيف)اسم صفت- واحد- مذکر- پۀ خپله عقيده ټينګ ولاړ- (م- عربي)-

حوا:(ح-وا)اسم- واحد- مؤنث- دٔ حضرت آدم عليه السلام بي بي او دٔ ټولې دنيا د انسانانو مور- (م- عربي)-

حوادث:(حَ-وا-دث)اسم- جمع- مذکر- دٔ حادثې جمع- (م- عربي)-

حواري:(حَ-وا-ري)اسم- واحد- مذکر- (۱)خوږ ملګرے- (۲)دٔ عيسىٰ عليه السلام دٔ دولسو ملګرو نه يو ملګرے- (۳)شاګرد- طالب- (م- عربي)-

حواريون:(حَ-وا-ري-يون)اسم- جمع- مذکر- دٔ حواري جمع- وګورئ حواري-

حواس:(حَ-واس)اسم- جمع- مذکر- د حس او ادراک قوت- دٔ حاسه جمع- (م- عربي)-

حواسي:(حَ-وا-سي)صفت- د حواس- د حواس سره منسوب-

www.pukhto.net

حواشي:(حُ-وا-شي)اسم- جمع- مؤنث- حاشې- غاړې- څنډې- دَ کتاب دَ صفې غاړه- دَ حاشيه جمع- (م- عربي)-

حوالات:(حَ-وا-لاتَ)اسم- واحد- مذکر- جېل يا تانه کښې هغه ځائ چې ملزمان دَ مقدمې دَ تفتيش په دوران کښې پکښې ساتلے شي- قېد- بند-

حوالاتي:(حَ-وا-لا-تي)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- هغه څوک چې په حوالات کښې وي-

حواله:(حَ-وا-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)سپارنه- سپُردَه- (۲)پته- درک- دليل- (۳)په ذمه- په غاړه-

حوت:(حوت)اسم- واحد- مذکر- (۱)مهے- کب- (۲)دَ هجري شمسي کال دولسمه مياشت- دَ دلوې او حمل تر مينځ مياشت- (م- عربي)-

حوره:(حُو-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ جنت ښائسته مخلوق- (۲صفت)ښائسته- پېره ښکلې- دَ ښکلا ښاپېرۍ- (م- عربي)-

حوږ:(حوږ)صفت- ښکته- کوز- لږ- کُوږ- وبخ کښې-

حوزه:(حَو-زه)اسم- واحد- مؤنث- سيمه- علاقه- ناحيه- ولکه-

حوصله:(حَو-صَ-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)صبر- زغم- همت- (۲)بجوره- ججيره- چاغور- (م- عربي)-

حوض:(حَوض)اسم- واحد- مذکر- تلاؤ- ډنډ- تالاؤ-

حوضچه:(حَوض-چه)اسم تصغير- واحد- مؤنث- دَ حوض اسم تصغير- تلاؤګے- ووړکے تلاؤ-

حول:(حَ-وَل)اسم- واحد- مذکر- چهے کېدنه- چهک توب- چهک والے- (افغانستان)-

حول:(حَول)اسم- واحد- مذکر- (۱)بېرته راګرځېدنه- (۲)وس- (۳)کېر چاپېر- (۴)کال-

حوېلي:(حَ-وې-لي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- بنګله- دَ وسېدو ځائ- انګن- محل- کوټې-

حي:(حيّ)صفت- (۱)دَ الله تعالی يو صفتي نوم- (۲)ژوندے- (م- عربي)-

حيا:(حَ-يا)اسم- واحد- مؤنث- شرم- پرده- وايه- لاره- ستر- غېرت- (م- عربي)-

حيا بوټے:(حَ-يا-بو-ټے)اسم- واحد- مذکر- شرم بوټے- شرمنده بوټے- يو بوټے چې په ګټو ووړلو مړاوے کيږي- نباتاتي نوم ميموسا پيتنز يا پيوديکا -MIMOSA PUDICA-

حيات:(حَ-ياتْ)اسم- واحد- مذکر- (۱)ژوند- ژواک- ژوندون- دَ مرګ ضد- (م- عربي)-

حياتکے:(حَ-يات-کے)اسم تصغير- دَ حيات اسم تصغير- ژوند-

حياتي:(حَ-يا-تي)اسم صفت- دَ ژوند سره تړلے- دَ حيات سره منسوب-

حيادار:(حَ-يا-دار)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- حيا ناک- غېرتي- چې په چا کښې حيا، لحاظ او شرم وي- مؤنث حياداره-

حياناک:(حَ-يا-ناک)اسم صفت- وګورئ حيادار-

حز:(حيز)اسم صفت- واحد- مذکر- ايرک- ايږ- هجړا- ايجړا- (م- عربي)-

حيضه:(حَ-يض-ضه)اسم صفت- واحد- مؤنث- هغه ښځه چې دَ حيض په حالت کښې وي- (م- عربي)-

حيله:(حي-له)اسم- واحد- مؤنث- چل- مکر- فريب- (م- عربي)-

حيله باز:(حي-له-باز)صفت- واحد- مذکر- حيله کونکے- مکار- چلباز- ټګ- فريبي- حيله ګر- حيله ناک- (م- عربي)-

حيله بازي:(حي-له-با-زي)اسم- واحد- مؤنث- مکاري- چلباري- ټګي- مکر- فريب- دَ حيله باز پيشه- (م- عربي)-

حيله ګر:(حي-له-ګر)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ حيله باز-

حيله ناک:(حي-له-ناک)صفت- واحد- مذکر- وګورئ حيله باز-

حيوي:(حَ-يه-وي)صفت- (۱)دَ ژوند په حقله- دَ ژوند- (۲)ژوندے-

حيه:(حَ-يه)اسم- واحد- مؤنث- ژوندۍ- (م- عربي)-

حې:(حې)دَ "ح" تلفظ-

حېث:(حېث)اسم- واحد- مذکر- (۱)ځائ- مکان- (۲)جهت- سبب- علت- کمله- (۳)نظر- اړخ- پلو- نقطه نظر- (م- عربي)-

حېثيت:(حې-ثي-يت)اسم- واحد- مذکر- (۱)وضع- جهت- (۲)اعتبار- اتبار- ابرو- شان- (م- عربي)-

حېدر:(حې-در)اسم- واحد- مذکر- زمرے- امزرے- منزرے- سائنسي نوم پينتيرا پاردس -PANTHERA PARDUS- (م- عربي)-

حېران:(حې-ران)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)اريان- حريان- هک پک- پرېشان- سرګردان- (۲)بې ورله- غريب-

حېرانتيا:(حې-ران-تيا)اسم- مؤنث- دَ حېرانېدو حالت- حيرت- تعجب- حېراني-

حېراني:(حې-را-ني)اسم- مؤنث- وګورئ حېرانتيا-

حېرانول:(حې-را-نول)مصدر متعدي- اريانول- هک پک کول- په تعجب کښې اچول- پرېشانه کول- سرګردانه کول-

حېرانون:(حې-را-نون)حاصل مصدر- وګورئ حېرانول-

حېرانونکے:(حې-را-نون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ حېرانول-

حېرانونګ:(حې-را-نونګ)حاصل مصدر- وګورئ حېرانول-

حېرانونه:(حې-را-نو-نه)حاصل مصدر- وګورئ حېرانول-

حېرانوه:(حې-را-نوه)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ حېرانول-

حېرانېدل:(حې-را-نې-دل)مصدر لازم- اريانېدل- حريانېدل- هک پک کېدل- په تعجب کښې پرېوتل- پرېشانه کېدل- سرګردانه کېدل-

حېرانېدنه:(حې-را-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ حېرانېدل-

حېرانېدنګ:(حې-را-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ حېرانېدل-

حېرانېدنه:(حې-را-نې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ حېرانېدل-

حېرانېدونکے:(حې-را-نې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ

www.pukhto.net

حیرانېدل-

حیرانېدهٔ(حے-را-ني-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ حیرانېدل-

حیرت(حے-رت)اسم- واحد- مذکر- وګورئ حیرانتیا- (م- عربي)-

حیض(حیض)اسم- واحد- مذکر- د ښځو میاشتنۍ ناروغي- حامې- د ښځو له رحم سره د وینو جاري کېدنه- (م- عربي)-

حیف(حَیف)اسم- واحد- مذکر- (۱)بې انصافي- ظلم- تېرے- ستم- تجاوز- (۲)أف- افسوس- ارمان- (م- عربي)-

حیوان(حے-وان)اسم- واحد- مذکر- ځناورے- ځناور- ښکر- (م- عربي)-

حیوان توب(حَے-وان-توب)اسم- مذکر- ښکر توب- بې سرېتوب- د ځناورو کارونه کول- حیوانیت- بد تمیزي- وحشت- وحشي توب-

حیوان شناس(حَے-وان-ش-ناس)اسم صفت- واحد- مذکر- د ځناورو پېژندونکے- زوالوجسټ-

حیوان شناسي(حے-وان-ش-نا-سي)اسم- مؤنث- زوالوجي- د ځناورو د پېژندګلو علم-

حیوان مطلق(حے-وان-مط-لق)اسم- واحد- مذکر- هغه حیوان چې شعور پوهه، عقل او د ویلو طاقت نهٔ لري- (م- عربي)-

حیوان ناطق(حے-وا-ن-نا-طق)اسم- واحد- مذکر- انسان- هغه حیوان چې د وینا او اظهار قوت لري- (م- عربي)-

حیواني(حے-وا-ني)صفت- د حیوان- د حیوان په حقله- نفساني-

حیوانیت(حے-وا-ني-یت)اسم صفت- وګورئ حیوان توب-

حے(حَے)صفت- ژوندے- ژوندے-

حے حے(حَے-حے)اسم- واحد- مذکر- د ماشومانو په ژبه (خر)-

خ:(خې)حرف- واحد- مؤنث- دٔ عربي اووم، دٔ فارسي نهم، دٔ اردو لسم، او د پښتو ژبې د حروف تهجي دولسم حرف چې دٔ ابجدو پهٔ حساب ئ قيمت شپږ سوه دي-

خا:(خا)اسم- واحد- مؤنث- سخا پښه- مُردار پښه- (افغانستان)-

خاپ:(خاپ)اسم- واحد- مذکر- خپ- خراپ- نښه- چاپ- داغ- ټاپه- مُهر- علامه- نښانه- جمع خاپونه-

خاپره:(خا-پهٔ-ره)اسم- واحد- مؤنث- ځېره- پنجه- جمع خاپرې-

خاپوڅې:(خا-پو-څې)اسم- جمع- مؤنث- خرپوڅې- خاړپوڅې- خپورې- خالپوڅې-

خاپورت:(خا-پو-رت)اسم- واحد- مذکر- هغه ګاروے چې خپله ئ دٔ تلو پهٔ وخت کښې پهٔ زمکه لګي- مؤنث خاپورته- جمع مؤنث خاپورتې-

خاپورن:(خا-پو-رن)اسم صفت- واحد- مذکر- شلم خپټے- پهٔ خرپوڅو تلونکے- ډېر ماشوم چې لاګرځېدے نهٔ شي- مؤنث خاپورنه-

خاپورې:(خا-پو-رې)اسم- جمع- مؤنث- وګورئ خاپوڅې-

خاپے:(خا-پے)اسم- واحد- مذکر- داغ- نقش- خاپ- جمع خاپي-

خاتم:(خا-تم)اسم صفت/فاعل- واحد- مذکر- ختمونکے- آخري کونکے- (م- عربي)-

خاتم:(خا-تَم)اسم- واحد- مذکر- (۱)مُهر- ګُتمه- (۲)آخري- پای- (م- عربي)-

خاتم الانبيا:(خا-تمل-ام-بي-يا)صفت- دٔ ټولو نبيانو دٔ نبوت ختمونکے- محمد صلی الله عليه وسلم- (م- عربي)-

خاتمه:(خا-ت-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)انجام- اختتام- (۲)مرګ- (۳)د کتاب هغه عبارت چې کتاب پرې ختميږي- جمع خاتمې-

خاتورې:(خا-تو-رې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- داتوره- دالتوره- دمتوره- بربګه- نباتاتي نوم وګورئ داتوره-

خاتورے:(خا-تو-رے)اسم- واحد- مذکر- شتالو- شلتالو- شفتالو- شونالو- د نباتاتي نوم د پاره وګورئ شلتالو-

خاتون:(خا-تُون)اسم- واحد- مؤنث- بي بي- بېګم- جمع خواتين- (م- ترکي)-

خاته:(خا-ته)اسم- د ختل مصدر نه اسم او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ ختل-

خاته:(خا-ته)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د کتابچې خطونه يا کرښې- (۲)پړاو- (افغانستان)-

خاته پربواته:(خا-ته-پرې-وا-ته)اسم مرکب- (۱)لاندې باندې- لوړې ژورې- (۲)نمرخاته او نمرپربواته-

خاتيز:(خا-تيز)اسم- مذکر- نمرخاته دٔ نمر دٔ راختلو ځاے- (افغانستان)-

خاتو:(خا-تو)اسم- خنده- ټوقې- ټقالې-

خاتول:(خا-تول)اسم- واحد- مذکر- خاتولے- غاتول- ختتول- غاټول- خانتول- غتتول- شمترور- د لاله ګل- د للي اې شس (LILIACEOUS) دٔ نوع غټې لرونکے ګل او د هغهٔ بوټے-

خاتولے:(خا-تو-لے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ خاتول-

خاچوپوچ:(خا-چو-پوچ)اسم- (۱)اخاشې پاشې- حسنې- (۲)بېکاره او فضول څيزونه- بې فائدې څيزونه- (افغانستان)-

خاچوپے:(خا-چو-پے)اسم- واحد- مذکر- بلبله- بلبل- چوپے- عندليب- مؤنث خاچوپې- (افغانستان)-

خاچي:(خا-چي)اسم- مذکر- موڅي- کچې- ګېنې- لپاړکي- (افغانستان)-

خادم:(خا-دم)اسم- واحد- مذکر- خدمتګار- نوکر- خدمت کونکے- جمع خادمان- مؤنث خادمه- (م- عربي)-

خادم توب:(خا-دم-توب)اسم- د خادم کار- خدمت-

خادمه:(خا-د-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دٔ خادم مؤنث- وګورئ خادم- جمع مؤنث خادمې-

خادمه:(خا-د-مه)اسم- واحد- مؤنث- کربوړے- غاروه- غارندوبے- خادمې- د کربوړي يا سمسرې په شان يو خزنده شلندکوهے- شلوټه-

خادمې:(خا-د-مې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ خادمه-

خاده:(خا-ده)اسم- واحد- مؤنث- وړوه پاکه- وړه لښتې- وړه او نرے لرګے-

خادے:(خا-دے)اسم- واحد- مذکر- د دېوال پهٔ سر دٔ پټي نه کېږ چاپېره د غر شپول- سرحار-

خار:(خار)اسم- واحد- مذکر- (۱)ازغه- ازغے- (۲)رقيب- (شاعري)- جمع خارونه- (م- فارسي)-

خار:(خار)اسم- واحد- مذکر- ويره- شرمېدنه- پيکه کېدنه- (کېدل- جوړل مصدرونه)-

خارا:(خا-را)اسم- مؤنث- (۱)يو قسم پخواني ريښمينه کپړه- (۲)صفت- کلکه تيږه- سخت کاڼے-

خارانے:(خا-را-نے)اسم- مذکر- د مې باد- د سوېل لهٔ خوا الوتونکے باد-

خارپوڅه:(خار-پو-څه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ خاړپوڅې-

خارج:(خا-رج)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)وېستلے- وېستے- بهر- وتے- وځيلے- ورچيے- (۲)بهرملک (افغانستان)(م- عربي)-

خارجول:(خار-ج-ول)مصدر متعدي- (۱)وېستل- شړل- لرې کول- کټ کول- (۲)نامنظورول- (۳)بهر کول-

خارجون:(خار-ج-ون)حاصل مصدر- وګورئ خارجول-

خارجونکے:(خا-ر-ج-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خارجونکي- مؤنث خارجونکې- وګورئ خارجول-

خارجونګ:(خار-ج-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خارجول-

خارجونه:(خار-ج-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ خارجول-

خارجوهٔ:(خار-ج-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ خارجول-

خارجه:(خار-جه)صفت- بهرنے- دٔ بهر- خارجي- دٔ داخل ضد-

www.pukhto.net

خارجه:(خا-ر-جه)اسم صفت- واحد- مؤنث- دٔ خارج مؤنث- وګورئ خارج-

خارجي:(خا-ر-جي)صفت- (۱)وګورئ خارجه- (۲)بې ایمانه- د مسلمانو هغه فرقه چې حضرت علی علیه السلام خلیفه نهٔ مني-

خارجېدل:(خا-ر-جې-دل)مصدرِ لازم- وېستلې کېدل- شړلے کېدل- لرې کېدل-

خارجېدن:(خا-ر-جې-دن)حاصل مصدر- وګورئ خارجېدل-

خارجېدنګ:(خا-ر-جې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ خارجېدل-

خارجېدنه:(خا-ر-جې-دَنَه)حاصلِ مصدر- وګورئ خارجېدل-

خارجېدونکے:(خا-ر-جې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خارجېدونکي- مؤنث خارجېدونکې- وګورئ خارجېدل-

خارجېدهٔ:(خا-ر-جې-دهٔ)حاصلِ مصدر او د ماضي استمراري دٔ واحد غائب صیغه- وګورئ خارجېدل-

خارخسک:(خار-خ-سک)اسم- مذکر- یو بوټے چې پهٔ دیسي طب کښې د دوا پهٔ توګه استعمالیږي- اغزکے- مالکندی- سهل- چنبے- نباتاتي نوم اسپېرېګس ګربسي لس (ASPARAGUS GRACILIS)-

خارخوټي:(خار-خو-ټي)اسم- واحد جمع- مؤنث- ګرداب- غلی- ول- خارخوړي- غرندے-

خارخور:(خار-خور)اسم صفت- تېل خور- شرمېدونکے- ویره کونکے-

خارخوړي:(خار-خو-ړي)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)وګورئ خارخوټي- (۲)وړې وړې کندې- (۳)پټ غار- پټه کنده- نامعلوم ځاے-

خاردار:(خار-دار)صفت- مذکر- ازغن- ازغي لرونکے- اغرین- ازغین- اغزینک- مؤنث خاردارہ- جمع مؤنث خارداري-

خاروے:(خا-ر-وے)اسم- مستي- چکه- پړ- ماستهٔ- متره- د پیو وران حالت کښې جوړ شوی غټهان-

خارښ:(خا-رښ)اسم- مذکر- (۱)خاربت- تخور- ګربت- پم- کهه- (۲)عادت-

خارښت:(خا-رښت)اسم- واحد- مذکر- وګورئ خارښ-

خارښتمن:(خا-رښت-من)صفت- وګورئ خارښتي-

خارښتول:(خا-رښ-تَ-ول)مصدرِ متعدي- تیخورول- ګرول-

خارښتون:(خا-رښ-تَ-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ خارښتول-

خارښتونکے:(خا-رښ-تَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خارښتونکي- مؤنث خارښتونکې- وګورئ خارښتول-

خارښتونګ:(خا-رښ-تَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خارښتول-

خارښتونه:(خا-رښ-تَ-وَ-نه)حاصل مصدر- تیخورول- ګرول-

خارښتوهٔ:(خا-رښ-تَ-وهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ خارښتول-

خارښتي:(خا-رښ-تي)صفت- (۱)خارښتي- د خارښ پهٔ مرض بیمار- پمي- (۲)وران کارے- ټګ لاسے- بداخلاقه- شریر- بدعمله- علتي- (۳)عادي- (۴)مفعول- کني-

خارښتېدل:(خا-رښ-تې-دل)مصدر لازم- تیخورېدل- ګرېدل-

خارښتېدن:(خا-رښ-تې-دن)حاصل مصدر- وګورئ خارښتېدل-

خارښتېدنګ:(خا-رښ-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ خارښتېدل-

خارښتېدنه:(خا-رښ-تې-دَنَه)حاصل مصدر- وګورئ خارښتېدل-

خارښتېدونکے:(خا-رښ-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خارښتېدونکي- مؤنث خارښتېدونکې- وګورئ خارښتېدل-

خارښتېدهٔ:(خا-رښ-تې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ خارښتېدل-

خارق العاده:(خا-رِ-قل-عا-ده)اسم- (۱)د عادت مخالف کار- حېرانونکے کار- معجزه- کرامت- (م- عربي)-

خارک:(خا-رک)اسم- واحد- مذکر- (۱)وړه غنمه وروکے ازغے- (۲)ازېره وچه شوې کجوره- (۳)د منداېو یا کالي چوکاټ- (افغانستان)-

خارو:(خا-رو)اسم- واحد- مذکر- دٔ چرګ د پنجې دٔ پاسه یو غټ ازغے چې چرګ پرې د ځان حفاظت کوي- جمع خاروګان-

خارو:(خا-رو)اسم- واحد- مذکر- خرېړ- د مارغهٔ خارو- د ځني مارغانو پهٔ لکه لمې یا لکه منې یو ازغے شان پېدا شي چې دٔ یو مرض علامه ګڼلے شي-

خاره:(خا-ره)اسم- مؤنث- شاره زمکه- شړه زمکه- پاګ-

خارپوخي:(خار-پو-خي)اسم- جمع- مؤنث- خرپوخي- خاپوړې-

خارمور:(خار-مور)اسم- واحد- مذکر- وګورئ تقندے-

خاریکز:(خا-ری-ګز)اسم- واحد- مذکر- بېدامه- بدمه- تور دزند- سخته سنې-

خازن:(خا-زن)اسم- واحد- مذکر- خزانچي- د خزانې ساتونکے- مؤنث خازنه- جمع خازنان- (م- عربي)-

خازه:(خا-زه)صفت- مراوې- د تازه ضد-

خازه:(خا-زه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)الکره- خاله- خده- (۲)دٔ خیز پېر کم مقدار- (۳)د قبر خزه- جمع خازې-

خازه توب:(خا-زه-توب)اسم- مراوي والے- شینه والے- جینګروالے- جېنګرتوب- د تازه والي ضد- (افغانستان)-

خازه والے:(خا-زه-وا-لے)اسم- وګورئ خازه توب-

خاږخاږ:(خاږ-خاږ)اسم- جمع- مذکر- د پوست تخم- قاشقاش- خاشخاش- د کلاشم (GLAUCIUM) د خېل یو بوټے-

خاسکي:(خا-س-کي)اسم- واحد جمع- مؤنث- خسکے- بند- هغه غوښه چې پهٔ مېږکي پوري وي-

خاسه:(خا-سه)اسم- مؤنث- وګورئ خاصه-

خاشاپنا:(خا-شا-پ-نا)صفت- بخیل- ډېر کنجوس- ور سترګے-

خاشاک:(خا-شاک)اسم- واحد- مذکر- (۱)خځلي- خاشې- خس- خسټې- خځې پلی- (۲)خشهوشې- خشاک- د سوزولو لرګي وغیره- جمع خاشاکونه-

زبر: (خ-سه-ره)، وروکے (شل)، پېښ: (نو-کيا-ره)، زور (ک-سات)، جزم (شکوې)، ه (ر-پ-ه)، هٔ (پو-سې-ده)

www.pukhto.net

(م- عربي)-

خاشاکښ:(خا-شا-کښ)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- دُ خاشي وېستو ماهر-

خاشخاش:(خاش- خاش)اسم- جمع- مذکر- (۱)خشخاش- قاشقاش- خاږخاږ- دُ کوکنارو داني- نباتاتي نوم دُ گلاشیم (GLAUCIUM) دُ خېل یو بوټے- (۲)دُ رتي ځلورشپېتمه (۲۴) حصه- (م- فارسي)-

خاشکیر:(خاش-کیر)اسم- واحد- مذکر- د خاکشیر عامیانه شکل- وګورئ خاکشیر-

خاشنهٔ:(خاش-نهٔ)اسم- جمع- مذکر- وګورئ خاشېهٔ-

خاشېهٔ:(خاش-بهٔ)اسم- جمع- مذکر- (۱)خرشنهٔ- خاشنهٔ- خرشنهٔ- خرشني- خرسین- لد- دُ خر لد- دُ اس، خر او قچر وغېره گندکي- (۲)دُ لړی مُرداري-

خاشه:(خا-شه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)حځلهٔ- (۲)دُ څهٔ څیز ېېر کم مقدار- (۳)خرسکه- خسکه- د ملګوملنو یو قسم بیماري- (۴)دُ غوښي ټوټه یا پوټے- جمع خاشي- (م- عربي)-

خاشه پنا:(خا-شه-پ‌نا)صفت- مذکر- وُستګے- وړے اروا لرونکے- خاشاپنا-

خاشه خاشه:(خا-شه-خا-شه)اسم صفت- واحد- مؤنث- پاره پاره- ریزه ریزه- پوټے پوټے- ټوټې ټوټې- جمع خاشي خاشي-

خاشه کښ:(خا-شه-کښ)اسم- واحد- مذکر- دُ خسکه یاخر سکه طبیب- (افغانستان)-

خاشي ماشي:(خا-شي-ما-شي)اسم مرکب- مذکر- خسني- خځلي- سخا ځیزونه- گند بلا- حقیر او سپک ځیزونه-

خاشي بُشي:(خا-شي-بُ-شي)اسم مرکب- مؤنث- خځلي مخلي- خاوري خځلي- خاوري خیري- خل پزاله-

خابه:(خا-به)اسم- مؤنث- خیرن- ریکه- جمع خابي-

خاص:(خاص)صفت- د عام ضد- مخصوص- خصوصي- ټاکلے شوے- اهم- غوره- مؤنث خاصه- (م- عربي)-

خاصتاً:(خا-ص-تاً)متعلق فعل- پهٔ خاص ډول- پهٔ خاصه توګه-

خاصره:(خا-ص-ره)اسم- واحد- مؤنث- تښے- تسے- جمع خاصري- (م- عربي)-

خاصمانه:(خا-ص-ما-نه)متعلق فعل- پهٔ دشمني- پهٔ بدي- (م- عربي- فارسي)-

خاص مخلص:(خاص-مخ-لص)اسم صفت- مرکب- خالص مخلص- صرف او صرف- تش-

خاصه:(خا-صه)اسم صفت- د سان نه لوه نري او ارزان بیعه کپړه- ململ- خاسه- جمع خاصي-

خاصه:(خا-صه)اسم صفت- د خاص مؤنث- مخصوصه- ټاکلي- غوره- اهمه- ځانګړي-

خاصه:(خا-صه)اسم- مؤنث- خاصیت- عادت- خوی- (م- عربي)-

خاصه دار:(خا-صه-دار)اسم- واحد- مذکر- دُ پاکستان قبائلي علاقو کښي د بي قاعده عسکری تنظیم فرد یا افراد چي دُ قبائلي ملکانو پهٔ خوښه برتي کیږي- (جمع خاصه دار او خاصه داران دواړه)-

خاصه داري:(خا-صه-دا-ري)اسم- (۱)د خاصه داری کار- (۲)بیگار-

خاصیت:(خا-صي-یت)اسم- واحد- مذکر- (۱)اثر- تاثیر- (۲)عادت- خوی- خاصه- (۳)صفت- جمع خاصیتونه-

خاضع:(خا-ضع)اسم صفت- خاکسار- بي کبره- بي غروره- متواضع- تواضع کونکے-

خاطر:(خا-طر)اسم- (۱)لحاظ- مع لحاظ- (۲)تواضع- (۳)وجه- (۴)زړهٔ- ضمیر- (۵)یاد- فکر- (م- عربي)-

خاطر تیز:(خا-طر-تیز) اسم صفت- واحد- مذکر- مغرور- متکبر-

خاطر تیزی:(خا-طر-تي-زی)اسم- مؤنث- تکبر-

خاطر جمع:(خا-طر-ج-مع)صفت- مطمئن- ډاډه- ببمه- پوره- (م- عربي- فارسي)-

خاطر جمعی:(خا-طر-جم-عی)اسم- تسلي- ډاډګیرنه- (م- عربي- فارسي)-

خاطرداري:(خا-طر-دا-ري)اسم- د زړهٔ د ساتلو کار- د بل زړهٔ ساتنه- تواضع- دار مدار- میلمستیا- (م- فارسي)-

خاطر مدار:(خا-طر-م-دار)اسم- (۱)مدار- خاطر- ټیټه پیټه- خدمت او عزت- (۲)مرکلے- پخیر راغلے- ښه ګړه- ستړی مشي- ګړه بړه- (م- عربي- فارسي)-

خاطره:(خا-ط-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)یاداشت- یاد- (۲)یادګار- جمع خاطری- (م- عربي)-

خاک:(خاک)اسم- مذکر- (۱)خاوره- (۲)زمکه- (م- فارسي)-

خاکبوسی:(خاک-بو-سی)اسم- مؤنث- خاوري ښکلونه- قدم بوسي- عزت احترام- (م- فارسي)-

خاکسار:(خاک-سار)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)بي کبره- بي غروره- (اصل معنی د خاورو پهٔ شان) (م- فارسي)-

خاکساري:(خاک-سا-ري)اسم- مؤنث- بي کبري- تواضع- (م- فارسي)-

خاکستردانی:(خا-کس- تر-دا-ني)اسم- مؤنث- ایرېنی- ایش ټرے- هغه لوښے چي دُ سګرټ ایره پکښي اچولے کیږي- (م- فارسي)-

خاکسترک:(خا-کس-ترَک)اسم- مذکر- دُ انګورو یو قسم بیماري- (افغانستان)-

خاک شوره:(خاک-شو-ره)اسم- مؤنث- سره- ښنګل- (م- فارسي)-

خاکشیر:(خاک- شیر)اسم- خاشکیر یو خودرو بوټے چي عموماً دُ غرونو لمن، باغونو او صحراګانو کښي راززغنیږی- چي نري پاڼې او پلني پاڼي او زیړ رنګ واړهٔ ګلونه بیسي او د قاشقاشو پهٔ شان نري نري داني لري چي پهٔ یوناني طب کښي پکارولے شي- جېنحم- جنجن- پشولمے-

www.pukhto.net

نباتاتي نوم د امرس پربکوريس تخم ARKUS PRECATORIUS-

خاکسوري:(خاک-سو-ري)اسم- عربي- کسب- کار- خاکسوراني-

خاکلې:(خا-کَه-لې)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)بدرنگ- بدشکله- دَ ښاغلي ضد-

خاکسا:(خاک-سا)اسم- مؤنث- خاکساني- د زمکي نرۍ او وړده توکره چي د دروُ اَبو په منځ کښي وي-

خاکسانې:(خاک-سا-نې)اسم- واحد- مذکر- وګوری: خاکسا-

خاکه:(خا-که)اسم- (۱)نقشه- تصوير- کچه نقشه- (۲)دَ وريژو مده- د کاهي ميده- (۳)د عمي ريزه- (۴)بي کاره څيز- (۵)دَ ماشومانو د تختي لوړه- (۶)د ادب يو نثري صنف- هغه نکل چي د چا په کردار ليکلې شوې وي-

خاکي:(خا-کي)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)خاوري رنګې- خړ- ايره رنګې- دَ خړ رنګ والا- (۲)دَ خاورو جوړ- انسان- (۳)هغه ما چي چرګه يَ بغير چرګ سره لهٔ جوړه کېدو اچوي-

خاکۍ:(خا-کۍ)اسم- کډۍ- ژور ځاۍ- ژوره زمکه- (افغانستان)-

خاکې:(خا-کې)اسم- واحد- مذکر- (۱)بي لحده قبر- هغه قبر چي لحد يُ نهٔ وي- جمع خاکي- (۲)کنده- ږوغل- (۳)د ماشومانو يو صم لوبه-

خاکاه:(خا-کاه)اسم- بربادونه- ورکونه- تباه کونه-

خاکلې:(خا-کَه-لې)اسم صفت- واحد- مذکر- ښاغلې- اغلې- ږوند- (افغانستان)-

خاکينه:(خا-کي-نه)اسم- واحد- مؤنث- دَ اګي پخولو د طريقو نه يوه طريقه- (افغانستان)-

خال:(خال)اسم- واحد- مذکر- (۱)خاپ- داغ- ټکې- (۲)د جوارۍ په دانه هغه پوټکې لرونکې اړخ چي دَ تاوان کور کړلې شي- (۳)دَ چيچک دَ پاره لګولې شوی ټيکه- جمع خالونه-

خالپوګې:(خال-پو-ګې)اسم- جمع- مؤنث- وګوری: خاپوځې-

خال چيني:(خال-چي-ني)اسم- مذکر- د انګورو يو قسم چي په قندهار کښي پيدا کيږي-

خال خال:(خال-خال)اسم صفت- مرکب- (۱)خاپ خاپ- داغ داغ- ټکي ټکي- (۲)لږ لږ- کم کم- (۳)ختي ختي-

خالدار:(خال-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- برګ بروګ- برګې- خالونه لرونکې- مؤنث خالداره-

خالص:(خا-لص)متعلق فعل اسم صفت- مذکر- پاک- سوچه- صفا- (م- عربي)-

خالصانه:(خا-ل-صا-نه)متعلق فعل- (۱)په خالص پول- په خاصه توګه- (۲)په صفا زړهٔ په پاک زړهٔ-

خالص مخلص:(خا-لص-مخ-لص)اسم صفت- مرکب- وګوری: خاص مخلص-

خالصه:(خا-ل-صه)اسم صفت- مؤنث- (۱)سوچه- صفا- پاکه- خاصه- (۲)دولتي شتمني-

خالق:(خا-لق)اسم صفت- مذکر- (۱)پيدا کونکې- دَ الله پاک لهٔ صفتونو نه يو صفت-

خالګ:(خا-لګ)اسم- واحد- مذکر- کرته- قميص-

خالکوبي:(خال-کو-بي)اسم- خال وهنه- رګونه وهنه- دَ متعدي بيمارو نه دَ ځان محفوظ ساتلو ټيکه وهنه- (م- فارسي)- (افغانستان)-

خالوت:(خا-لوت)اسم- مذکر- وګوری: خلات-

خاله:(خا-له)اسم- واحد- مؤنث- ترور- د مور خور- (م- عربي)-

خالي:(خا-لي)اسم- مذکر- (۱)د هفتي ورځ- د جمعي او اتوار تر منځ ورځ- (۲)ميانه- ټيقعده- د مياني مياشت-

خالي:(خا-لي)صفت- تش- ورګار- خُشې- ړې- خلا لرونکې- (م- فارسي)-

خالي والې:(خا-لي-وا-لې)اسم- دَ ډک والي ضد- تشوالې- خلاصوالې-

خام:(خام)اسم صفت- مذکر- (۱)اوم- کچه- چي پوخ نهٔ وي- دَ پوخ ضد- (۲)ناتجربه کار-

خامپوخي:(خام-پو-خي)اسم- جمع- مؤنث- خرپوځي- خرپوسي- په کونډو ښلنه- په کورو ښلنه-

خامتا:(خام-تا)اسم- واحد- مؤنث- خمتا- چپړ- خمتو- خامتو- په کورنو کښو تياره شوی کپړه چي د پوښي نه جوړولې شي- جمع خامتاګاني

خامتما:(خام-تما)اسم صفت- واحد- مذکر- خانتما- مغرور- کبرژن- متکبر- بې پروا- بې فکره- پرواه نه لرونکې-

خامچي:(خام-چي)اسم- واحد- جمع- مؤنث- کچه کته- وره کته-

خامخا:(خام-خا)متعلق فعل- ارومرو- ضرور- حتمي- حتماً-

خامزور:(خام-زور)اسم- واحد- مذکر- وګوری: خامزورې-

خامزوره:(خام-زو-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: خامزورې- جمع خامزوري-

خامزورې:(خام-زو-رې)اسم- خامزور- خامزوره- خمزور- خمزوره- خمزوري- شاهيانګه- شاپرنګه- نباتاتي نوم فزي لس الکې کېنجي (PHYSALIS ALKEKENGI)-

خامسوز:(خام-سوز)صفت- (۱)خمسوز- داسي سوځېدلې چي مېنځ يُ کچه پاتي وي- په اور نيم سوځېدلې- (۲)شين غت- خام- دَ غوښي هغه پوټه چي په اور سوي وي-

خامک:(خا-مک)اسم- ګل کاري- دستکاري- (افغانستان)-

خامکار:(خام-کار)اسم صفت- ناتجربه کار- (م- فارسي)-

خامکاري:(خام-کا-ري)اسم- مؤنث- د خامکار کندو حالت-

خامک دوري:(خا-مک-دو-زي)اسم- مؤنث- دستکاري- ګل کاري-

خاملتي:(خام-لې-تي) اسم- واحد جمع- مؤنث- لېتي- شيره-

خاموش:(خا-موش)صفت- غلې- چُپ- سنجيده- (م- فارسي)-

خاموشي:(خا-مو-شي)اسم- مؤنث- چوپيا- چپ والې- سنجيدګي- ارامتيا- قراري- چپتيا-

خامه:(خا-مه)اسم- واحد- مؤنث- د خام مؤنث- (۲)کچه لار- کچه سړک-

(م- فارسی)-

خامه کاری:(خا-مه-کا-ری)اسم- د خټو کار- (افغانستان)-

خامي:(خا-مي)اسم- (۱)ومواليے- کچه والے- (۲)غلطي-

خان:(خان)اسم- (۱)د قبيلې سردار- مشر- عزتمند- (۲)د عزت خطاب- (۳)مالدار- بختور- (۴)سخی- جمع خانان- (م- ترکی)-

خان بادر:(خان-با-دُر)صفت- د انګريزانو د وخت يو سرکاري خطاب- جمع خان بادران-

خان بادری:(خان-با-دُری)اسم- مؤنث- (۱)د خان بادر مرتبه- (۲)مشری- معتبری-

خانتما:(خان-تَ-ما)صفت- وګورئ خامتما-

خانتماتوب:(خان-تَ-ما-توب)اسم- تکبر- غرور- لويې نظری-

خانجی:(خان-جي)اسم صفت- هغه د احترام نوم چې مشرانو، يا خانانو ته د عزت په توګه ونيلے شي-

خانجے:(خان-جے)اسم- هوس- شهوت- د شهوت خارښت- (افغانستان)-

خانچنے:(خان-چڼ-نے)اسم- واحد- مذکر- (۱)چيختاړ- خرمېچ- (۲)اتوي شوې ژواله- (افغانستان)-

خانچه:(خان-چه)اسم- واحد- مؤنث- د خوانچه يو قرأت- وګورئ خوانچه- جمع خانچې-

خان خوانين:(خان-خ-وا-نين)اسم مرکب- جمع- مذکر- خانان- ملکان- غټان- معتبر خلق- شته من- سپنان-

خان خوټے:(خان-خو-ټے)اسم- واحد- مذکر- ګوراګے- جمع خان خوټي-

خان خېل:(خان-خېل)صفت- خانواده- د خانانو او غټانو له کورنۍ- (۲)غټ- د دبدبې خښتن- مؤنث خان خېله-

خاندان:(خا-نَ-دان)اسم- واحد- مذکر- خېل- کورنۍ- قبيله- نسل- جمع خاندانونه- (م- فارسی)-

خاندانی:(خا-نَ-دا-ني)صفت- (۱)کورنی- (۲)د ښې کورنۍ- (م- فارسی)-

خاندک:(خان-دک)اسم- واحد- مذکر- ديوال-

خاندور:(خان-دَور)اسم- لمبه شوے اور- د اور لمبه- شغله- غورنجه- (افغانستان)-

خاندومه:(خان-دُو-مه)اسم- واحد- مؤنث- خادمې- د ممصري يو قسم- جمع خاندومې-

خانوی:(خان-وی)اسم- د مرې يو قسم چې لوې لوې غوږونه يې وی او ډېره چابکه وی-

خانزاده:(خان-زا-ده)صفت- د خان ځوئ- د خانانو د ټبر نه- د ښه خاندان سره تعلق لرونکے- مؤنث خانزادګی- (م- فارسی)-

خان صاحب:(خان-صا-حب)اسم- هغه خطاب چې د انګريزانو له خوا به د علاقې خانانو ته معوی سره د سياسی تعاون په بنياد ورکولے شو-

خان صاحبی:(خان-صا-ح-بی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د خان صاحب مرتبه- (۲)مشری-

خانسامه:(خان-سا-مه)اسم- واحد- مذکر- خانسامان- باورچی- اشپز- جمع خانسامګان-

خانسامه توب:(خان-سا-مه-توب)اسم- د خانسامه کار- خانسامه ګيری-

خانسامه ګيری:(خان-سا-مه-ګی-ری)اسم- وګورئ خانسامه توب-

خانشين:(خا-نَ-شين)صفت- بېکاره- خانه نشين- په کټ کښې ناست- په کور ناست- (افغانستان)-

خانقاه:(خان-قاه)اسم- د راهبانو د وسېدو ځاۍ- (م- فارسی)-

خانکورے:(خان-کو-رے)اسم صفت- د خانی د کور غړے- جمع خانکوری-

خانګره:(خانګ-ره)اسم- واحد- مؤنث- ځنګره- سی- بوسکر- خانګرے- د سر د وېښتو ځشکی- جمع خانګرې-

خانګرے:(خانګ-رے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ خانګره-

خان ګوټے:(خان-ګو-ټے)اسم- واحد- مذکر- خان خوټے- ګوراګے- جمع خانګوټی-

خانګی:(خانګ-ګی)صفت- (۱)د کور سره متعلق- (۲)ذاتی- ځېل-

خانلی:(خان-لی)اسم- واحد جمع- مؤنث- يو قسم بوټے چې د ځناورو ناروغه ځاۍ پرې داغلے شي- (افغانستان)-

خانم:(خا-نُم)اسم- واحد- مؤنث- بی بی- بېګم- مېرمن- (۲)کوره- بال بچ- (۳)واده شوې ښځه- (م- ترکی)-

خانمه:(خا-نُ-مه)اسم- واحد- مؤنث- خانم- ښځه- مېرمنه- (۲)کوره-

خان واده:(خا-نَ-وا-ده)اسم صفت- (۱)خاندان- لوې ټبر- (۲)خان- مُعتبر- غټ- شته من- خانواده- خان خانواده- (۲)د خانانو له کورنۍ-

خانوتا:(خا-نو-تا)اسم- واحد- مؤنث- خامتا- بيستې- کهې- شاره شهاره او شپله ټوټه چې جولاګان يې په ګرځو اوبدی-

خانوده:(خا-نو-ده)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- (۱)خانواده- خاندانی- شريفه- ښه- (۲)رعب ناک- رعب دار- د لوې حېثيت او ښې کورنۍ خښتن- (افغانستان)-

خانه:(خا-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کور- مېنه- د استوګنې ځاۍ- (۲)د ټول څيز نه يوه برخه- څه حصه- (۳)چارخانه- کورکے- په کهرو يا کاغذ جوړه شوې څلور ګټيزه خلا- جدول- جمع خانې-

خانه بدوش:(خا-نه-ب-دوش)اسم صفت- کوچے- کډوال- کوټه- کډمار- مؤنث خانه بدوشه- جمع مؤنث خانه بدوشې-

خانه بدوشی:(خا-نه-بد-وشی)اسم- کډماری- کوچی توب- د کډې په سر ګرځولو کار-

خانه برباد:(خا-نه-بر-باد)اسم صفت- واحد- مذکر- خانه خرابه- فضول خرچه-

خانه بربادی:(خا-نه-بر-با-دی)اسم- مؤنث- د کور ورانے- د کور بربادی-

خانه پړی:(خا-نه-پ-ړی)اسم- مؤنث- وګورئ خانه پوری-

ئ" (ځی-رل)، ي"(مي-رو-ول)، ې"(ډيا-لي)، ے"(تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

خانه پوري:(خا-نه-پو-ري)اسم- مؤنث- خانه پري- دَ جدول ډکونه-

خانه تلاشي:(خا-نه-تـه-لا-شي)اسم- واحد- مؤنث- دَ کور تلاشي- دَ کور لټونه-

خانه جنګي:(خا-نه-جنګ-ګي)اسم- واحد- مؤنث- دَ ملک دننه جنګ- دَ وطن دَ مختلفو طبقو ترمېنځه جنګ- په يوه علاقه کښې دَ وسېدونکيو ترمېنځه جنګ-

خانه خانه:(خا-نه-خا-نه)صفت- (۱)کور کور- (۲)هغه څه چې ډېرې خانې لري-

خانه خراب:(خا-نه-خ-راب)صفت- (۱)کورورانے- (۲)بې‌پروا- (۳)شرير او شېطان سړے- (م- فارسي)-

خانه خرابي:(خا-نه-خ-را-بي)اسم- مؤنث- (۱)کور وراندنه- (۲) بې‌پروا والے-

خانه دار:(خا-نه-دار)اسم صفت- (۱)دَ کور خاوند- دَ کور مالک- (۲)اراده کړے سړے-

خانه داري:(خا-نه-دا-ري)اسم- مؤنث- (۱)کوروالے کونه- دَ ښځې او خاوند خپلو کښې په جنسي ډول يو ځاے کېدنه- (۲)دَ کور انتظام-

خانه زاد:(خا-نه-زاد)صفت- (۱)کورنے- (۲)غلام- مړئيے- نوکر- (م- فارسي)-

خانه سامان:(خا-نه-سا-مان)اسم- خدمتګار- نوکر- ملازم- هغه نوکر چې دَ يو خاص او رسمي مقام خدمت کوي- (افغانستان)-

خانه کوچ:(خا-نه-کوچ)اسم- واحد- مذکر- سره دَ کوره لېږېدنه- کډه کونه-

خانشين:(خا-نه-نه-شين)اسم صفت- واحد/جمع- مذکر- په کور کښې ناست- ګوشه نشين-

خانه نشيني:(خا-نه-نه-شي-ني)اسم- مؤنث- په کور کښې ناستے-

خاند وادہ:(خا-نه-وا-ده)صفت- خانواده- مالدار- دَ ښې کورنۍ-

خانه ويران:(خا-نه-وي-ران)صفت- برباد- خراب او ودان ځاے- خانه خراب-

خاني:(خا-ني)اسم- مؤنث- د قبيلې مشري- د کلي مشري- بادارئ-

خانيځې (خا-ني-ځې)صفت- جمع- مؤنث- خاني لرونکې- خاني ځاني- خانيز- (افغانستان)-

خانيز:(خا-نيز)صفت- مذکر- وګورئ: خانيځې-

خاني:(خا-ني)کلمهٔ ندا- (۱)هلک ته د مينې د مخاطبې توره- (۲) د خانه جمع-

خانے:(خا-نے)اسم- واحد- مذکر- صحرائے غټ منږک- ږنده موږ- جمع خاني- (افغانستان)-

خانے:(خا-نے)اسم- واحد- مذکر- دَ کامل دَ وزن پېماني مطابق دَ اتو سېرو سره برابر کاڼے- (افغانستان)-

خاوال:(خا-وال)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه ځاے چې پکښې ګوې بزې راغنډولے شي- شپول- پېدځاے- (۲)دَ ديوال پړ- (افغانستان)-

خاورزي:(خا-ور-زي)صفت- خاورين- لهٔ خاورو جوړ-

خاورګاړے:(خا-ور-ګا-ړے)اسم- هغه کنده چې دَ خاورينو لوښو دَ جوړولو پاره ترې خاوره راوېستلے شوې وي- (افغانستان)-

خاوره:(خاو-ره)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)خټه- دوړه- (۲)زمکه- (۳)وطن- (۴)سرۀ- (۵)سپک- بې قدره- بې ښې- جمع خاورې-

خاورين:(خاو-رين)صفت- خاورزين- د خاورو نه جوړ-

خاوري:(خاو-ري)اسم- جمع- مؤنث- (۱)خورې- پټکرې- پټکنۍ- (۲)هغه سپينه خاوره چې ماشومان يې په تختيو مږي- مټي- مټي- ميټي-

خاورے:(خاو-رے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ترګه- ځنګل- (۲)اشېنګلے- يو قسم ګل- جمع خاورې-

توری سره يو ځایٔ راتلونکے تورے لکه جوش وخروش-

خروکه:(خرو-که)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم خواړهٔ وابنهٔ- جمع خروکې-

(افغانستان)-

خروکے:(خ-رو-کے)اسم- شخوند وهونکے حېوان- هغه حېوان چې دوه معدې
لری او خوړلے شوے خوراک د شخوند د پاره بيا راوباسی- (افغانستان)-

خرول:(خ-ر-ول)مصدر متعدی- خرخره کول- کرول- تراشل-

خرول:(خر-ول)مصدر متعدی- خرل- خربل- خربيل- کلول- کَل کول-

خرول:(خرول)اسم- واحد- مذکر- دْ منګی هغه برغولے چې له لرګی جوړ
شوے وی- جمع خرولان- (افغانستان)-

خرولال:(خ-رو-لال)اسم- واحد- مذکر- دْ پټ پټونی په شان دْ ماشومانو يوه
لوبه-

خروله:(خر-وهٔ-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وله- يو قسم وُنه- دْ نباتاتی نوم
د پاره وګورئ الچوغ- جمع خرولې- (۲)يو قسم غرنی وُنه چې دْ ولې په
څېر پاڼې او لښتې کوی- خرلوه-

خرولے:(خ-ر-وهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خرولی- مؤنث خرولې-
وګورئ: خرول ۱-

خرولے:(خر-وهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خرولی- مؤنث خرولې-
وګورئ: خرول ۲-

خرومر:(خ-رو-مر)صفت- (۱)نادان- ناپوهه- احمق- بې عقله- (۲)جنجالی-
(افغانستان)-

خرومه:(خرو-مه)اسم- اذوقه- روزی- ازوعه- رزق- (افغانستان)-

خرون:(خ-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ: خرول ۱-

خرون:(خر-ون)حاصل مصدر- وګورئ: خرول ۲-

خرونکے:(خ-رون-کے)اسم فاعل- جمع خرونکی- مؤنث خرونکې- وګورئ: خرل-

خرونکے:(خ-ر-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خرونکی- مؤنث
خرونکې- وګورئ: خرول ۱-

خرونکے:(خر-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خرونکی- مؤنث
خرونکې- وګورئ: خرول ۲-

خرونګ:(خ-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ: خرول ۱-

خرونګ:(خر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ: خرول ۲-

خرونه:(خ-ر-وهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ: خرول ۱-

خرونه:(خ-ر-وهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ: خرول ۲-

خروه:(خر-وه)اسم- واحد- مؤنث- ويلنے- يو قسم پودينه- د شمشوبی په
شان يو بوټے- نباتاتی نوم- مېنتها سټيوا (MENTHA SATIVA)- جمع
خروې-

خره:(خ-ره)اسم- واحد- مؤنث- ښارو- ښاروني- ښراکه- لالی-

خره:(خ-ره)اسم- واحد- مؤنث- د باز يا چرګ د پښې خارو- جمع خرې-

خره:(خ-ره)اسم- واحد- مؤنث- واښې- بوس لرونکې د غلې دلی- جمع خرې-

خره:(خره)اسم- واحد- مؤنث- د خر مؤنث وګورئ خر-

خره بلوله:(خره-بلو-له)اسم- واحد- مؤنث- د ملکانو يوه لوبه-

www pukhto net

خره پښه:(خره-پښه)صفت- خلي- ضدي- اړی مار-

خره حراړه:(خره-ح-را-ړه)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم وړه ورو‌کي حراړه- (افغانستان)-

خره رن:(خره-رن)اسم- موبي- هغه وړه ساڼے لرګے چې د لاندی موسه او ګې ورسره خوړند وی-

خره کے:(خره-کے)اسم- يو قسم ازغن واښهٔ چې دَ څاروو دَ پاره ئ د ژمی دَ خوراک د پاره جمع کوی-

خره واړ:(خره-واړ)اسم- دَ جوارو د بجبل پهٔ شان ګل کومکے يو قسم واښهٔ چې څاروی ئ خوری- خره وړ-

خره وړ:(خره-وړ)اسم- وګورئ خره واړ-

خرمار:(خر-مار)(خمرار)اسم صوت- پهٔ يو مخ دَ خرخر اواز-

خرياشک:(خر-يا-شک)اسم- يو قسم شين بوټے چې بېخ ئ خوږ وی- (افغانستان)-

خريد:(خ-ريد)اسم- خريداری- پهٔ قيمت اخستنه- (م- فارسی)-

خريد:(خريد)اسم- ضد- شرارت (دَ وړو هلکانو)-

خريدار:(خ-ری-دار)اسم صفت- پهٔ بيعه اخستونکے- پهٔ قيمت اخستونکے- جمع خريداران- مؤنث خريداره- جمع مؤنث خريدارې- (م- فارسی)-

خريداری:(خ-ری-دا-ری)اسم- پهٔ بيعه اخستنه- د قيمت پهٔ بدل کښې اخستنه- (م- فارسی)-

خريز:(خريز)اسم- واحد- مذکر- (۱)غټ لرګے- هغه لرګے چې دَ ژرندې پل پری پورته کوی- د مېچنې تيرګے مرده- (۲)د کباب سيخ- (۳)خارو- خرو- خره- (۴)دَ رشقې خرېټے- دَ ورډلو نه پاتې شوی مونه- جمع خريزونه خريزان-

خريزکے:(خريز-کے)اسم- واحد- مذکر- وړوکے مونه- مونهه کرکے- جمع خريزکی-

خريس:(خريس)صفت- مذکر- (۱)پوار- غليظ- کنده- خيرن- (۲)پير غټ- جمع خريسان- مؤنث خريسه- جمع مؤنث خريسې-

خريطه:(خری-طه)اسم- خلقه- کڅوړه- بسته- (۲)نقشه- جغ- نخچه- (م- عربی)-

خريف:(خ-ريف)اسم- (۱)دَ منی موسم- دَ منی فصل- هغه فصل چې منی کښې پخيږی- (م- عربی)-

خريل:(خ-ريل)مصدر- (۱)خرېل- خريل- کلول- (۲)نستل-

خريلے:(خر-يلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خريلی- مؤنث خريلې- وګورئ خريل-

خرين:(خر-ين)حاصل مصدر- وګورئ خرين-

خرينګ:(خر-ينګ)حاصل مصدر- وګورئ خريل-

خرينه:(خر-ينه)حاصل مصدر- وګورئ خريل-

خريونکے:(خر-يون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خريونکی- مؤنث خريونکې- وګورئ خريل-

خريونے:(خر-يو-نے)اسم فاعل- جمع خريونی- مؤنث خريونې- وګورئ خريل-

خرې:(خ-رې)اسم- دَ خره جمع- هغه تېرهٔ ختړونه چې دَ باز، چرګ او نورو مارغانو پهٔ پښو لهٔ خوانېدو نه پس راوخی- دَ پښې رسولی-

خرې پهٔ خرې:(خرې-پهٔ-خرې)صفت متعلق فعل- پهٔ کُشتې کښې دَ پهلوانانو يو شانته شا لګېدنه- يو برابر کېدنه- هيچ برابرېدنه- (افغانستان)-

خرېب:(خرېب)صفت- ټول- پهٔ يو ځاې- ډېر- (افغانستان)-

خرېټے:(خرې-ټے)اسم- دَ خلقو ګڼه ګوڼه- (افغانستان)-

خرېدل:(خ-رې-دل)مصدر لازم- (۱)خورېدل- خره خره کول- خرخر کول- خرمار کول- (۲)خرېيل- خرولے کېدل-

خرېدلے:(خ-رې-دلے)اسم مفعول- واحد- جمع خرېدلی- مؤنث خرېدلې- وګورئ خرېدل-

خرېدن:(خ-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ خرېدل-

خرېدنګ:(خ-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ خرېدل-

خرېدنه:(خ-رې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ خرېدل-

خرېدونکے:(خ-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خرېدونکی- مؤنث خرېدونکې- وګورئ خرېدل-

خرېدهٔ:(خ-رې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ خرېدل-

خرېړے:(خ-رې-ړے)اسم- واحد- مذکر- ډرنے- دوړنګ- خومبه- خرړکی- خرېرکے- سمارق- پوڅکی- ستورے- مږکنے- کوڅے- مرخېړے- (۲)خرېړے- پهٔ پيو کښې دَ غلو دَ داړې پهٔ وجه وران شوی پئ چې يو قسم خوراک دے- (۳)وران ماستهٔ-

خرېمه:(خرې-مه)اسم- مؤنث- (۱)د خرې ګرمېدنه- (۲)هغه خره چې خر غواړی- د خرې وار راورنه-

خرېيل:(خرې-يل)مصدر- خرېل- کلول- خرول- ريحيل-

خرېيلے:(خرې-يلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خرېيلی- مؤنث خرېيلې- وګورئ خرېين-

خرېين:(خرې-ين)حاصل مصدر- وګورئ خرېيل-

خرېينګ:(خرې-ينګ)حاصل مصدر- وګورئ خرېيل-

خرېينه:(خرې-ينه)حاصل مصدر- وګورئ خرېيل-

خرېيونکے:(خرې-يون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خرېيونکی- مؤنث خرېيونکې- وګورئ خرېيل-

خرېيونے:(خرې-يو-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خرېيونی- مؤنث خرېيونې- وګورئ خرېيل-

خرے:(خ-رے)اسم صفت- (۱)خيلی- ضدی- (۲)اسم- دَ نوک درد-

خړ:(خړ)اسم- واحد- مذکر- خوړ- دَ سيلاب دَ اَبو لار- جمع خړونه-

ی" (خی-رل)، ې"(ھي-ره-ول)، ی"(ھيا-لي)، ے"(تن-ره-يې) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

خړ:(خړ)صفت- (۱)خاکي- خاورين- خاوري رنګه- (۲)ملامته ېږ- شرمنده- خجل- (۳)په خاورو لړلې-

خړ:(خړ)اسم صوت- شړ- چړ- د اوبو يا د بل څه مايعي د تويولو اواز- د تي کولو په وخت ختونکې اواز-

خړ:(خړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)کړيسک- د پوزې نه وتونکې ګند- (۲)جماع- (۳)لوي بول-

خړاپ:(خړاپ)اسم صفت- واحد- مذکر- خړپ- تېز ګوذار- تېز ويشتنه- (۲)لمحه-

خړاس:(خړاس)اسم صوت- (۱)اوار- خړس- (۲)کړس- د څه څيز د جنګيدو اواز-

خړاکه:(خ-ړا-که)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ خړړک- جمع خړاکي-

خړامبو:(خړام-بو)صفت- شلېږ- چاغ- غټ- بې ترتيبه غټ-

خړامبوګې:(خړام-بو-ګې)اسم تصغير- وګورئ خړامبو-

خړامبچ:(خرا-مبچ)صفت- چيت پيټ- د پښو لاندې چخېي شوې-

خړاند:(خړاند)اسم صفت- واحد- مذکر- بمبيهو- کالکجو-

خړانګه:(خړانګ-ګه)اسم- خرانګه- ګانګه- ښاخ- خرامبه- کنبه- نوغړک- خمبه- جمع خړانګې-

خړانګه:(خړانګ-ګه)اسم- شوذېي- شدوبي- سهرلاکه- شمشې ناکه- شهش ناکه- خړانه- خړې- يو قسم ورکي مرغۍ- جمع خړانګې-

خړانګې وړانګې:(خړانګ-ګې-وړانګ-ګې)صفت- خړانګې وړانګې- شاولې واولې- وير واز-

خړانه:(خړا-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ خړانګه ۲-

خړاز:(خ-ړاز)اسم- وګورئ خړوب-

خړاوه:(خړ-ا-وه)اسم- (۱)د سهو جنګ- (۲)دوه تنه په جنګ کېدنه-

خړبخن:(خړ-ب-خن)صفت- مذکر- خړبوژن- خړرنګې- خاکي رنګ- خړچه- خړ رنګ ته مائل- مؤنث خړبخنه- جمع مؤنث خړبخنې-

خړبوژن:(خړ-بو-ژن)صفت- مذکر- وګورئ خړبخن-

خړپ:(خړپ)اسم صوت- د څه څيز د لوېدو او ماتېدو اواز-

خړپ:(خړپ)اسم- واحد- مذکر- (۱)غټ کنځل- (۲)ناشوړته خبره- (۳)په څه څيز کښې غلبتونه منډنه- (۴)دبدبه- شان وشوکت- جمع خړپونه-

خړپ:(خړپ)صفت- کنې- مفعول- خړپا-

خړپا:(خړ-پا)صفت- کنې- مفعول-

خړپا:(خړ-پا)اسم صوت- د څه څيز د لوېدلو او ماتېدلو پوله پسې اواز-

خړپارو:(خړ-پا-رو)صفت- مذکر- کم عقل- بې وقوف- شوېږ-

خړپېر:(خړ-پېر)صفت- (۱)په خاورو کښې لړپېدلې- (۲)خاکي رنګ- سپېرې- (۳)ساده-

خړپېر:(خړ-پېر)اسم- واحد- مذکر- (۱)خړې پېړې- په هوا کښې الوتونکې حل پل- (۲)د دماغو ګرچ- دماغي حلل-

خړپېرتوب:(خړ-پېر-توب)اسم- (۱)خړپېرتيا- خړپېروالې- (۲)سادګي-

خړپېرتيا:(خړ-پېر-تيا)اسم- وګورئ خړپېرتوب-

خړپېند:(خړ-پېند)صفت- ټيکه- ګاټه- غليظ- (افغانستان)-

خړپوڅي:(خړ-پو-څي)اسم- جمع- مؤنث- وګورئ خاړپوڅي-

خړپ وخړوپ:(خړ-پو-خړوپ)اسم- (۱)ټکار- (۲)پېرې خبرې کونه- (۳)د څه څيز د ماتېدو او غوځيدو پوله پسې اوازونه- (۴)منډنه او راکښنه-

خړپول:(خړ-پ-ول)مصدر متعدی- (۱)وهل- ټکول- غړپول- (۲)غول- (۳)د څه څيز سره په ماتولو اواز وکښل-

خړپولې:(خړ-پو-ولې)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خړپولي- مؤنث خړپولې- وګورئ خړپول-

خړپون:(خړ-پ-ون)حاصل مصدر- وګورئ خړپول-

خړپونکې:(خړ-پ-ون-کې)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خړپونکي- مؤنث خړپونکې- وګورئ خړپول-

خړپونګ:(خړ-پ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خړپول-

خړپونه:(خړ-پ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ خړپول-

خړپهار:(خړ-پ-هار)اسم صوت- خړپار- خړپېږ- (۱)د اورو د اخښلو اواز- (۲)په لبو کښې د ګرځېدلو او پېښو سره د پښتولو اواز-

خړپېدل:(خړ-پې-دل)مصدر لازم- په لبو کښې ګرځېدل- (۲)د اورو د اخښلو اواز وتل-

خړپېدلې:(خړ-پې-دلې)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خړپېدلي- مؤنث خړپېدلې- وګورئ خړپېدل-

خړپېدن:(خړ-پې-دن)حاصل مصدر- وګورئ خړپېدل-

خړپېدنګ:(خړ-پې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ خړپېدل-

خړپېدنه:(خړ-پې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ خړپېدل-

خړپېدونکې:(خړ-پې-دون-کې)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خړپېدونکي- مؤنث خړپېدونکې- وګورئ خړپېدل-

خړپېده:(خړ-پې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ خړپېدل-

خړپې:(خړ-پې)اسم صوت- خړپار- وګورئ خړپهار-

خړت:(خړت)اسم صوت- (۱)په بړکه خندا- (۲)د پوزې رابهېدلو اواز- د پوزې سوې سوې کونه- پوزه په بړه بړه راکښنه- کړينګ- قتې- قن-

خړت پړت:(خړت-پړت)اسم- بې قاعدې کار-

خړت پړت:(خړت-پړت)اسم صوت- خټ خټ- د کټوي د ختکېدو بې واره اواز-

خړتم:(خړ-تم)اسم- واحد- مذکر- خلتم- د ملتې د وجود هغه اندام چې اوبه پرې څښي او خلې ته پرې ګيا راتلاوي- (م- عربي)-

خړتمې چړګ:(خړ-تمې-چړګ)اسم- خړتم لرونکې چرګ- پيټې-

خړتمې:(خړ-تمې)اسم- واحد- مذکر- وګورئ خړتمې چړګ-

زبر "(ح-بيڅ-ره)"؛ زورکې "(شل)"، پېش "(نو-کا-ره)"، رمز (ک ساب)، حروم (شکوی)، ٥ (ر-ړه)، ۃ (پو-مې-دۀ)

www.pukhto.net

خړتن:(خَړ-ڼَ-تَن)صفت- مذکر- هغه څوک چې قتی يې رابهيري- هغه څوک چې ډېره رياته او هر وخت يې پوزه رابهيري- قپا- کړنګن- ګړينګن-

خړتوب:(خَړ-توب)اسم- (۱)خړتيا- خړوالے- (۲)شرمنده کېدنه-

خړتول:(خَړ-ڼَ-تَ-ول)مصدر متعدي- (۱)خړت خړت ويستل- په برق برق او بړوج بړوج خندل- (۲)غول- (۳)شړتول-

خړتولے:(خَړ-ڼَت-وڼَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خړتولي- مؤنث خړتولې- وګوره خړتول-

خړتون:(خَړ-ڼَ-تَ-ون)حاصل مصدر- وګوره خړتول-

خړتونکے:(خَړ-ڼَت-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خړتونکي- مؤنث خړتونکې- وګوره خړتول-

خړتونګ:(خَړ-ڼَ-تَ-ونګ)حاصل مصدر-.وګوره خړتول-

خړتونه:(خَړ-ڼَ-تَ-وڼَنه)حاصل مصدر- وګوره خړتول-

خړتوی:(خَړ-توی)اسم- واحد- مذکر- سېلاؤ- سېلاب- چله- ځله- د اَبو خړه-

خړته:(خَړ-ڼَ-ته)اسم- واحد- مؤنث- قړته- عبث خبره- چټي خبره- جمع خړتې-

خړتې بړتې:(خَړ-ڼَتې-بړ-ڼَتې)اسم- مؤنث- چل ول- هغه دغه- فريب- غولونه- ټال مټول-

خړتېدل:(خَړ-ڼَتې-دَل)مصدر لازم- (۱)خړت خړت کول- په بړوج بړوج خندل- (۲)غولے کېدل- (۳)شړتېدل-

خړتېدلے:(خَړ-ڼَتې-دَڼَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خړتېدلي- مؤنث خړتېدلې- وګوره خړتېدل-

خړتېدن:(خَړ-ڼَ-تې-دَن)حاصل مصدر- وګوره خړتېدل-

خړتېدنګ:(خَړ-ڼَ-تې-دَنګ)حاصل مصدر- وګوره خړتېدل-

خړتېدنه:(خَړ-ڼَتې-دَڼَ-نه)حاصل مصدر- وګوره خړتېدل-

خړتېدونکے:(خَړ-ڼَتې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خړتېدونکي- مؤنث خړتېدونکې- وګوره خړتېدل-

خړتېده:(خَړ-ڼَتې-دَه)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګوره خړتېدل-

خړچ:(خَړچ)اسم صوت- د لرګي يا بل سخت څيز د ماتېدو اواز-

خړچند:(خَړ-چَند)صفت- خرسند- د خړچ اواز کونکے- خړچ کونکے-

خړچول:(خَړ-ڼَ-چ-ول)مصدر متعدي- د لرګي يا بل کلک څيز د ماتولو اواز- کړچول- ټوپک تماچه کښې ګتې وهل، د ټوپک تماچې لنډ بنکته پورته کول-

خړچولے:(خَړ-ڼَ-چ-وڼَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خړچولي- مؤنث خړچولې- وګوره خړچول-

خړچون:(خَړ-ڼَ-چ-ون)حاصل مصدر- وګوره خړچول-

خړچونکے:(خَړ-ڼَ-چ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خړچونکي- مؤنث خړچونکې- وګوره خړچول-

خړچونګ:(خَړ-ڼَچ-ونګ)حاصل مصدر- وګوره خړچول-

خړچونه:(خَړ-ڼَ-چ-وڼَنه)حاصل مصدر- وګوره خړچول-

خړچهار:(خَړ-ڼَچ-هار)اسم صوت- خړچے- د لرګي يا بل سخت څيز د ماتېدو اواز-

خړچېدل:(خَړ-ڼَچې-دَل)مصدر لازم- لرګے ماتېدل- د ټوپک لنډ وهلے کېدل-

خړچېدلے:(خَړ-ڼَچې-دَڼَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خړچېدلي- مؤنث خړچېدلې- وګوره خړچېدل-

خړچېدن:(خَړ-ڼَچې-دَن)حاصل مصدر- وګوره خړچېدل-

خړچېدنګ:(خَړ-ڼَچې-دَنګ)حاصل مصدر- وګوره خړچېدل-

خړچېدنه:(خَړ-ڼَچې-دَڼَنه)حاصل مصدر- وګوره خړچېدل-

خړچېدونکے:(خَړ-ڼَچې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خړچېدونکي- مؤنث خړچېدونکې- وګوره خړچېدل-

خړچېده:(خَړ-ڼَچې-دَه)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګوره خړچېدل-

خړچے:(خَړ-ڼَچے)اسم صوت- وګوره خړچهار-

خړخن:(خړه-خن)اسم صفت- کروړن- بلغمي سږے- زيات خراشکي توکونکے-

خړخرې:(خَړ-خ-رې)اسم- جمع- مؤنث- غړغړې- د بنيادم يا څاروي د حلالولو په وخت چې د وينو د شړارې او بهېدونه کوم د خړخړ اواز پورته کېږي- (م- فارسي)-

خړخشه:(خَړ-خَ-شه)اسم- واحد- مؤنث- خرخښه- فتنه- غشه- ټکه- شرشره-

خړدانګه:(خَړ-دانګ-که)اسم- واحد- مؤنث- وګوره خردانګه-

خړده:(خَړ-ده)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د قرآن شريف په ختم دم شوے خوږ څيز يا د زيارتونو راوړلې شوې ماڼګه يا خوږ څيز- (۲)متبرک خوراک-

خړز:(خَړز)اسم صوت- وچ ټخے- د څه څيز د غرځېدلو يا د ټوپک د خلاصېدلو اواز-

خړزول:(خَړ-ز-ول)مصدر متعدي- (۱)د ټوپک خلاصول- ګړزول- غرځول- (۲)دواړه لاسونه پړقول- (۳)وچ ټخ کول- (۴)د دروازې يا داسې بل کوم شي پورې کول-

خړزولے:(خَړ-ز-وڼَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګوره خړزول-

خړزون:(خَړ-ز-ون)حاصل مصدر- وګوره خړزول-

خړزونکے:(خَړ-ز-وون-کے)اسم فاعل- جمع خړزونکي- مؤنث خړزونکې- وګوره خړزول-

خړزونګ:(خَړ-ز-ونګ)حاصل مصدر- وګوره خړزول-

خړزونه:(خَړ-ز-وڼَنه)حاصل مصدر- وګوره خړزول-

خړزهار:(خَړ-ز-هار)اسم صوت- (۱)خړزے- ګړزار- د څه څيز د غرځېدو پرله پسې اواز- غړزهار- (۲)پرله پسې ټخے-

خړزېدل:(خَړ-زې-دَل)مصدر لازم- (۱)ګړزېدل- د څه څيز د غرځېدلو يا د ټوپک د ډزو پرله پسې اوازونه وتل- (۲)پرله پسې وچ ټخے کول-

www.pukhto.net

خږزېدلے:(خږ-زي-دۀ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خږزېدلی- مؤنث خږزېدلې- وګورئ خږزېدل-

خږزېدن:(خږ-زي-دن)حاصل مصدر- وګورئ خږزېدل-

خږزېدنګ:(خږ-زي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ خږزېدل-

خږزېدنه:(خږ-زي-دۀ-نه)حاصل مصدر- وګورئ خږزېدل-

خږزېدونکے:(خږ-زي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خږزېدونکی- مؤنث خږزېدونکې- وګورئ خږزېدل-

خږزېدۀ:(خږ-زي-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ خږزېدل-

خږرے:(خږ-رے)اسم صوت- وګورئ خږزهار-

خږژن:(خږ-ژن)صفت- مذکر- (۱)خږبخن- خږرنګه- خږوزمه- (۲)خيرن- (۳)تت- خږ-

خږژنتوب:(خږ-ژن-توب)اسم- (۱)خږژنتيا- خږژنوالے- خږرنګ والے- (۲)خيرن والے-

خږژنتيا:(خږ-ژن-تيا)اسم- وګورئ خږژنتوب-

خږژنوالے:(خږ-ژن-وا-لے)اسم- وګورئ خږژنتوب-

خږس:(خږس)اسم صوت- خږسا- (۱)دَ لرګی يا بل کلک څيز دَ ماتېدو اواز- (۲)پۀ ځمکه دَ وهلو اواز- (۳)دَ معدې نه دَ باد راوتلو اواز-

خږسا:(خږ-سا)اسم صوت- وګورئ خږس-

خږسترګے:(خږ-ستر-ګے)صفت- واحد- مذکر- (۱)ملامته- شرمنده- بې شرم- (۲)شکست خورده- (۳)دَ خږو سترګو خاوند- خږې سترګې لرونکے-

خږسند:(خږ-سند)صفت- (۱)اکږوسند- کږوسند- کږسند- چغزی لرګے- ژرماتېدونکے لرګے- (۲)فضول خبرې کونکے- (افغانستان)-

خږسول:(خږ-سو-ول)مصدر متعدی- پۀ لرګی، لښته يا څېړې سره وهل- (۲)ړوول- (۳)دَ څۀ څيز دَ ماتېدلو اواز-

خږسولے:(خږ-سو-وۀ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خږسولی- مؤنث خږسولې- وګورئ خږسول-

خږسون:(خږ-سو-ون)حاصل مصدر- وګورئ خږسول-

خږسونکے:(خږ-سو-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خږسونکی- مؤنث خږسونکې- وګورئ خږسول-

خږسونګ:(خږ-سو-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خږسول-

خږسونه:(خږ-سو-وۀ-نه)حاصل مصدر- وګورئ خږسول-

خږسه:(خږ-سه)اسم- واحد- مؤنث- پۀ اسمان کښې دَ تندر اواز- آفت- تندر- جمع خږسې-

خږسهار:(خږ-سو-هار)اسم صوت- (۱)خږسے- دَ لرګی يا بل کوم داسې څيز دَ ماتېدلو پوله پسې اواز- (۲)دَ وهلو ټکولو پوله پسې اواز-

خږسېدل:(خږ-سي-دل)مصدر لازم- (۱)دَ خږس اواز پورته کېدل- (۲)وهلے کېدل- شړقېدل-

خږسېدلے:(خږ-سي-دۀ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خږسېدلی- مؤنث خږسېدلې- وګورئ خږسېدل-

خږسېدن:(خږ-سي-دن)حاصل مصدر- وګورئ خږسېدل-

خږسېدنګ:(خږ-سي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ خږسېدل-

خږسېدنه:(خږ-سي-دۀ-نه)حاصل مصدر- وګورئ خږسېدل-

خږسېدونکے:(خږ-سي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خږسېدونکی- مؤنث خږسېدونکې- وګورئ خږسېدل-

خږسېدۀ:(خږ-سي-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ خږسېدل-

خږسے:(خږ-سے)اسم صوت- وګورئ خږسهار-

خږطوم:(خږ-طوم)اسم- واحد- مذکر- خږتم- خلتم- (م- عربی)-

خږکه:(خږ-ړکه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ خراړه- جمع خږکې-

خږکے:(خږ-کے)اسم تصغير- (۱)خږ- دَ خږ اسم تصغير- (۲)ساده- خوارۀ کے- خوارکے-

خږکے:(خږ-کے)اسم صوت- دَ حلالېدو پۀ وخت دَ حلالېدونکی څيز دَ مرۍ نه پۀ زور سره دَ وينې دَ دارې وتلو اواز-

خږکے:(خږ-کے)اسم صوت- هغه اواز چې لۀ قی کولو يا پۀ زوره ټوکلو سره پيدا کېږی-

خږکاوه:(خږ-کا-وه)اسم- خږه- خږې اُبۀ- دَ سېلاب لۀ خټو ډکې اُبۀ-

خږکبيخ:(خږ-کم-بيخ)اسم- مذکر- سپېرۀ سحر- دَ سحر ملابانګ وخت نه لږ وړاندې وخت چې لږ وخت دَ پاره پکښې رڼا ښکاره شي او بيا غيبه شي- دَ صبح صادق ضد-

خږل:(خ-ړل)مصدر- اخيږول- خاره کول- ليږول- (۲)تلے کول-

خږل:(خږل)مصدر- غل کول- مٔنيازی کول- لوئې حاجت پوره کول- لوئې بول کول-

خږلمانځۀ:(خږ-لمان-ځۀ)اسم- خږسنی- سوری سحر- دَ سحر لۀ نمانځۀ نه پس چې لا خږه خوره شوې نۀ وی- دَ چړبانګی نه پس-

خږلمے:(خږ-لمے)اسم- سنجاب- دَ منږک نه لږ غټ ځناور چې دَ څرمنې نه ئې پوستين جوړولے شي-

خږلے:(خ-ړۀ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خږلی- مؤنث خږلې- وګورئ خږل-

خږلے:(خږ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خږلی- مؤنث خږلې- وګورئ خږل-

خږمن:(خ-رم-من)اسم صفت- واحد- مذکر- خږوا- خږمبزن- قږمېزن- کږبکور- کږبکور- کږينکن- هغه څوک چې پوزه ئې هر وخت ګنده وی-

خږمت:(خږ-مت)اسم- قپې- خپې- کږينک- کږنک-

خږموت:(خږ-موت)اسم- دَ ماشوماتو يو قسم لوبه- (افغانستان)-

خږمور:(خږ-مور)اسم- ځاږے- دَ زرکې پۀ انداز دَ غرۀ يوه حلاله مرغۍ-

زبر (ح-مۀ-ره) زورکے (شل)، پېښ (ټو-کا-ره)، زمو (ک-تاب)، حږم (شکوپ) ه (ر-ړه) ۀ (پو-ښي-دۀ)

(افغانستان)-

خرمور (خر-مور)اسم صفت- شاړه رمکه- رانه از حرانه رمکه-

خرمېزن (خر-مې-زن)اسم صفت- وګورئ خرمبن- مؤنث خرمېزنه- جمع
مؤنث خرمېزني-

خړن:(خړن)اسم صفت- مذکر- ډېر ځوراکي سړے- ګېډه ور-

خړن:(خ-ړن)اسم صفت- مذکر- خړو- ویرېدونکے- ډارن- ترن-

خړن:(خ-ړن)حاصل مصدر- وګورئ خړل-

خړن:(خړن)حاصل مصدر- وګورئ خړل-

خړنتوب:(خړن-توب)اسم- خړنتیا- ډېر خوراک کونه-

خړنتیا:(خړن-تیا)اسم- وګورئ خړنتوب-

خړنج:(خړنج)اسم- سې اتفاقي- ورانے- نفاق- خړنګ- حلل- حج- دل-
(افغانستان)-

خړنجاوی:(خړن-جا-وی)صفت- خړنج اچونکے- حللي-

خړند:(خړند)اسم- واحد- مذکر- خریز- خنډ- مونډ- سهه- پنهر- خرنډ-
ناړ- جمع خړندونه-

خړنډ:(خړنډ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ خړند- جمع خړنډونه-

خړنګ:(خ-رنګ)اسم- واحد- مذکر- کرموړے- صحرائي چرمسکې- سورسرکه-
یوه ځنګلي سمسره- (افغانستان)-

خړنګ:(خړنګ)اسم- خړنج- رخنه- خنډ- حلل- دل-

خړنګ:(خ-رنګ)حاصل مصدر- وګورئ خړل-

خړنګ:(خړنګ)حاصل مصدر- وګورئ خړل-

خړنګه:(خړنګه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ډېل- تاخیر- ایسارتیا- (۲)خړنج-
اړ- خنډ-

خړنګے:(خړن-ګے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم صحرائي بوټے چې ګل ئې ښین
او پاڼې ئې خړې وي او لوړوالے ئې د ۵۰ نه تر ۷۵ سنتي میټرو پورې
وي- جمع خړنګي- (افغانستان)-

خړنه:(خ-ړ-نه)حاصل مصدر- وګورئ خړل-

خړنه:(خړ-نه)حاصل مصدر- وګورئ خړل-

خړو:(خ-ړو)صفت- مذکر- خړن- ویرېدونکے-

خړواکے:(خړ-وا-کے)اسم- (۱)خړ رنګ لرنه- (۲)تتوالے- (۳)حجالت-
خجلتوت- شرم-

خړوب:(خ-ړوب)صفت- اُبه شوے- سېراب شوے- پېه-

خړوبره:(خړ-وبېره)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- خړبخن- خړوالی نه
مایل- سور مارنجي - هغه رنګ چې نه خړ وي او نه سور وي-

خړوبکړے:(خ-ړوب-کړے)اسم- د ختو کلګ کونګے- لېوګړ- (افغانستان)-

خړوبن:(خړو-بن)صفت- په خړو اُبو لړلے- په ختوککړ-

خړوبول:(خ-ړو-ب-ول)مصدر متعدی- (۱)ښه اُبه کول- فصل په ابو ښه
مړول- پېه کول- (۲)د ختو دیوالونو له د خاړې ګروے ورکول-

خړوبون:(خ-ړو-ب-ون)حاصل مصدر- وګورئ خړوبول-

خړوبونګ:(خ-ړو-ب-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خړوبول-

خړوبونه:(خ-ړو-ب-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ خړوبول-

خړوبوونکے:(خ-ړو-ب-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خړوبونکي-
مؤنث خړوبونکې- وګورئ خړوبول-

خړوبېدل:(خ-ړو-بې-دل)مصدر لازم- (۱)سېراب کېدل- ښه اُبه کېدل- پېه
کېدل- فصل په اُبو ښه مړېدل- (۲)دېوالونه ښه لېو کېدل-

خړوبېدن:(خ-ړو-بې-دن)حاصل مصدر- وګورئ خړوبېدل-

خړوبېدنګ:(خ-ړو-بې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ خړوبېدل-

خړوبېدنه:(خ-ړو-بې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ خړوبېدل-

خړوبېدونکے:(خ-ړو-بې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع
خړوبېدونکي- مؤنث خړوبېدونکې- وګورئ خړوبېدل-

خړوبېده:(خ-ړو-بې-ده)حاصل مصدر او ماضي استمراري د واحد غائب
صیغه- وګورئ خړوبېدل-

خړوبے:(خ-ړو-بے)اسم- په اُبو کښې حل شوې ختې- ګړوبے- خاړه-
(افغانستان)-

خړوپ:(خړوپ)اسم صوت- په ابلي او ټېټګ ځیر کښې د بل د پوپېدو یا
غړخېدلو اواز-

خړوپ:(خړ-وپ)صفت- خړوپ-

خړوپول:(خړو-پ-ول)مصدر متعدی- په ټېنګ او ابلي ځیر کښې د بل ځیز د
غړخولو یا پوپولو اواز-

خړوپون:(خړو-پ-ون)حاصل مصدر- وګورئ خړوپول-

خړوپونکے:(خړو-پ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خړوپونکي-
مؤنث خړوپونکې- وګورئ خړوپول-

خړوپونګ:(خړو-پ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خړوپول-

خړوپونه:(خړو-پ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ خړوپول-

خړوپېدل:(خړو-پې-دل)مصدر لازم- په ټېنګ او ابلي ځیز کښې د ګڼه ځیز د
غړخېدو اواز پیدا کېدل-

خړوپېدن:(خړو-پې-دن)حاصل مصدر- وګورئ خړوپېدل-

خړوپېدنګ:(خړو-پې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ خړوپېدل-

خړوپېدنه:(خړو-پې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ خړوپېدل-

خړوپېدونکے:(خړو-پې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع
خړوپېدونکي- مؤنث خړوپېدونکې- وګورئ خړوپېدل-

خړوپېده:(خړو-پې-ده)حاصل مصدر او ماضي استمراري د واحد غائب
صیغه- وګورئ خړوپېدل-

خړوپے:(خړو-پے)اسم- (۱)بې خونده بحکرے- بې خونده انګولے- هغه
کټوې چې مالګه مساله پرې برابر نه وي- (۲)ګرمې شوملې-

خړوپے:(خړو-پے)اسم- تولی- پوفک- پوپک- د نرګی بډه میله چې د ختو

ئ" (ئي-ول)، ئ"(هي-وه-ول)، ی"(یبا-لي)، ے"(تن-دیے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

کولی پکښې د خلې د پوکې په زور سره د نښې حوا ته غرځولے شي- (افغانستان)-

خرورک(خر-و-رک)اسم- خرورک- سره او سپین ګلونه لرونکې یو قسم سبزي چې د سپرلي په شروع کښې زرغنیږي او کچه خوړے شي-

خروز(خروز)اسم صوت- (۱)د ټوپک د یز اواز- (۲)اسم- پساز- کونوبے-

خروس (خ-روس)صفت- مذکر- بې ایمانه- بې غیرته- بې همته- جروس- حروسان-

خروس(خروس)اسم صوت- د څه ځیز د غرځیدلو یا ماتیدلو پوب اواز-

خروستوب (خ-روس-توب)اسم- مذکر- بې همتي- بې غیرتي- چروسوب- خروستیا-

خروستیا(خ-روس-تیا) اسم- مؤنث- وګورئ خروستوب-

خروسکه (خروس-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)غروسکه- غرسکه- (۲)نمره مد بونې- پوروزه- (۳)تور او ګڼ لوګے- (۴)لنډ بوی-

خروسکے (خروس-کے)اسم- غرسکه- د وریځې وړه ټوکړه- جمع خروسکي-

خروسوالے (خ-روس-والے)اسم- مذکر- وګورئ خروستوب-

خروسه(خرو-سه)اسم- واحد- مؤنث- بوی- وږمه- جمع خروسې-

خرو کونتر (خه-رو-کون-تر)اسم- مذکر- خړی کونتر- یو قسم کونتر چې رنګ ئې خړ وي-

خرول(خه-ر-ول)مصدر متعدي- (۱)خړ رنګ ورکول- (۲)خړمول- مغشوشول- (۳)په اُبو کښې خاورې اچول-

خرومبے(خه-روم-بے)صفت- خوړیند- خوړین- پوخ-

خرون(خه-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ خرول-

خرونکے (خه-ر-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خرونکي- مؤنث خرونکې- وګورئ خرول-

خرونکے (خ-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خرونکي- مؤنث خرونکې- وګورئ خړل-

خرونکے (خرون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خرونکي- مؤنث خرونکې- وګورئ خړل-

خرونګ(خه-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خرول-

خرونه(خه-ر-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ خرول-

خره(خه-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خاره- لهه- سیلاب راوړی خټه- هغه خاوره چې سیلاب د پورته علاقو نه میداني علاقو ته راوړې وي- (۲)تیاره- ماښام- خړ ماښام- دوږند- خړ سحر- (۳)سمسي- محانعت- (۴)ابري وریځ- جمع خړې-

خړه(خه-ره)اسم صفت- واحد- مؤنث- د خړ مؤنث-

خره بکه(خه-ره-بکه)اسم- خراړه- یو خرونکې مرغی- جمع خره بکې-

خره پره(خه-ره-پره)صفت- مؤنث- (۱)تبخی خړه- (۲)سره ساده- (۳)اسم- سحر وخت- جمع خړې پرې-

خره پښته(خه-ره-پښ-ته)صفت- مرکب- سوچه پښتنه- ساده پښتنه- جمع خړې پښتنې-

خره کے(خه-ره-کے)صفت- مذکر- (۱) خړونکے- د خاکي رنګ- (۲)ساده- جمع خره کي- جمع مؤنث خره کې-

خرهار (خر-هار)(خ-ړار)اسم صوت- د قی په وخت له خلې وتونکے اواز-

خریالے (خر-یا-لے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)خړ- خیرن- (۲)ناخوشه- بې طبعې- دلګیر- زهیر-

خریت (خریت)اسم صفت- چیپ پوزے- موچاټ- موچړے- پیت پزے- پیغ پزے- (۲)خوړین- خوړیبه- ورومت- (۳)ابوبا- زوړ- عمر خوړلے-

خریت پزے(خریت-پزے)صفت- مذکر- وګورئ خریت-

خریتوالے(خریت-والے)اسم- وګورئ خریتوب-

خریتوب (خریت-توب)اسم- (۱)خریتوالے- پلن والے- (۲)زوړ والے- وروست والے-

خریتول (خری-ت-ول)مصدر متعدي- چیتول- زوړول- خوړیبول- وروستول-

خریتون(خری-ت-ون)حاصل مصدر- وګورئ خریتول-

خریتونکے (خری-ت-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خریتونکي- مؤنث خریتونکې- وګورئ خریتول-

خریتونګ(خری-ت-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خریتول-

خریتونه (خری-ت-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ خریتول-

خریته پزه(خری-ته-پزه)اسم صفت- مؤنث- پلنه پوزه- جمع خریتې پزې- (افغانستان)-

خریتیدل (خری-تې-دل)مصدر لازم- (۱)پلنیدل-چیتیدل- (۲)زړیدل- وروستیدل- (۳)بوډا کیدل- عمر خوړلے کیدل-

خریتیدن(خری-تې-دن)حاصل مصدر- وګورئ خریتیدل-

خریتیدنګ (خری-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ خریتیدل-

خریتیدنه(خری-تې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ خریتیدل-

خریتیدونکے (خری-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خریتیدونکي- مؤنث خریتیدونکې- وګورئ خریتیدل-

خریتیده(خری-تې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ خریتیدل-

خریتې (خری-تې)اسم صفت- واحد جمع- مؤنث- د پلنې پوزې لرونکې ښځه-

خریتے (خری-تے)اسم صفت- واحد- مذکر- پلنه پوزه لرونکے سړے-

خریج (خریج)اسم- واحد- مذکر- تربلے- هود- اوډ- وسته- ونډ- حوض- تالاؤ- جوړ- تلاؤ- هغه ځای چې د کاریز اُبه پکښې جمع کیږي- جمع خریجونه-

خریچ(خریچ)صفت- مذکر- چیت پیت- د پیسو لاندې مبتلے شوے-

خریس (خریس)اسم صفت- مذکر- خریسن- دبو- عټ- لوئ- ناپېر- ستر- ککر- ځړب- ناراسته-

www.pukhto.net

خړيستوب:(خړيسَ-توب)اسم- خړيمار- خړيسوالے- ډېر زيات غتوالے- معه غټ والے او ډېر ځَرب والے چې سړے پرې بدرنګ ښکاری-

خړيسمار:(خړيسَ- مار)صفت- مذکر- ګېډه ور- ګېډغارے- ډېر خوراکه- خېټور-

خړيسوالے:(خړيس-والے)اسم- مذکر- وګورئ خړيستوب-

خړيمار:(خړی-مار)صفت- مذکر- وګورئ خړيسمار-

خړين:(خړينَ)صفت- (۱)خړيند- پوست- نرم- ډېر پوخ- اُبرن- (۲)قهرېدلے- سوځت- په غصه- (۳)ښه وهلے شوے-

خړينبو:(خړينَ-بو)صفت- ناولے سړے- چټل- مُردار خور(سړے)- (افغانستان)-

خړينتوب:(خړينَ-توبَ)اسم- مذکر- خړين والے- پوستوالے- وروست والے- پوخ والے-

خړيند:(خړيندَ)صفت- مذکر- وګورئ خړين-

خړيندول:(خړينَ-دَ-ول)مصدر متعدی- (۱)خړينول- نرمول- پستول- ډېر پخول- ابړنول- (۲)قهرول- غصه کول- (۳)سخته سزا ورکول- ښه وهل- په وهلو وهلو خمبيره کول-

خړيندون:(خړينَ-دَ-ون)حاصل مصدر- وګورئ خړيندول-

خړيندونګ:(خړين-دَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خړيندول-

خړيندونه:(خړين-دَ-ونَه)حاصل مصدر- وګورئ خړيندول-

خړيندونکے:(خړينَ-دَ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خړيندونکی- مؤنث خړيندونکې- وګورئ خړيندول-

خړيندېدل:(خړينَ-دې-دَل)مصدر لازم- (۱)خړنېدل- نرمېدل- پستېدل- ډېر پخېدل- ابړنېدل- (۲)قهرېدل- غصه کېدل- (۳)سخته سزا ورکېدل- ښه وهلے کېدل- په وهلو وهلو خمبيره کېدل-

خړيندېدن:(خړينَ-دې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ خړيندېدل-

خړيندېدنګ:(خړينَ-دې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ خړيندېدل-

خړيندېدنه:(خړينَ-دې-دَنَه)حاصل مصدر- وګورئ خړيندېدل-

خړيندېدونکے:(خړينَ-دې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خړيندېدونکی- مؤنث خړيندېدونکې- وګورئ خړيندېدل-

خړيندېدهٔ:(خړينَ-دې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ خړيندېدل-

خړين والے:(خړين-والے)اسم- وګورئ خړين توب-

خړينول:(خړی-نَ-ولَ)مصدر- وګورئ خړيندول-

خړينون:(خړی-نَ-ونَ)حاصل مصدر- وګورئ خړيندون-

خړينونکے:(خړی-نَ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خړينونکی- مؤنث خړينونکې- وګورئ خړيندونکے-

خړينونګ:(خړی-نَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خړيندونګ-

خړينونه:(خړی-نَ-ونَه)حاصل مصدر- وګورئ خړيندونه-

خړينه:(خړی-نه)اسم- واحد- مؤنث- مينه- اُلفت- محبت- جمع خړينې-

خړينېدل:(خړی-نې-دَل)مصدر لازم- وګورئ خوړيندېدل-

خړينېدن:(خړی-نې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ خړيندېدن-

خړينېدنګ:(خړی-نې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ خړيندېدنګ-

خړينېدنه:(خړی-نې-دَنَه)حاصل مصدر- وګورئ خړيندېدنه-

خړينېدونکے:(خړی-نې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خړينېدونکی- مؤنث خړينېدونکې- وګورئ خړينېدل-

خړينېدهٔ:(خړی-نې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ خړينېدل-

خړې:(خَ-ړې)اسم- مؤنث- معه حاره چې د ځلبې کولو په وخت د يوې په کمه کښې نښتې وی-

خړېدل:(خَ-ړې-دَل)مصدر لازم- (۱)خړ ډېر کېدل- سپيرهٔ کېدل- خاکی کېدل- (۲)ککړېدل- (۳)شرمېدل-

خړېدل:(خړی-دَل)مصدر- د کډی بزی د لېوهٔ يا سپی د لاسه په خاورو ختو کښې لتړېدل- (۲)د خاورو ريښېدل-

خړېدن:(خَ-ړې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ خړېدل-

خړېدن:(خړی-دَن)حاصل مصدر- وګورئ خړېدل-

خړېدنګ:(خَ-ړې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ خړېدل-

خړېدنګ:(خړې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ خړېدل-

خړېدنه:(خَ-ړې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ خړېدل-

خړېدنه:(خړی-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ خړېدل-

خړېدونکے:(خَ-ړې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خړېدونکی- مؤنث خړېدونکې- وګورئ خړېدل-

خړېدونکے:(خړی-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خړېدونکی- مؤنث خړېدونکی- وګورئ خړېدل-

خړېدهٔ:(خَ-ړې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ خړېدل-

خړېدهٔ:(خړې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ خړېدل-

خړی:(خړی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ خړانګه-

خړی پړی:(خړی-پړی)اسم- وګورئ خړی پړی-

خړی پړی:(خړی-پړی)اسم- عذر- زاری- منت- خړی پړی- ځان ټيټ بودنه-

خړے:(خَ-ړے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱) د خړ رنګ- خړرنګے- (۲)اسم- وګورئ خړې-

خړے:(خَ-ړے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)حېټو- حېټور- ګېډور- ګېډ غارے- ډېر خوراکه- (۲)حېټه- ګېډه- (۳)د بنيادم ښکې متيازې- بول-

خز:(خز)اسم- واحد- مذکر- خز- تورلمے- بيلونګړے- خر- (افغانستان)-

ي" (ځی-ول)، ې"(مې-ره-ول)، ی"(پيا-لی)، ے"(تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

خز:(خَز)اسم- واحد- مذکر- خیګه کمبله- شړله شړی- (افغانستان)-

خز:(خزّ)اسم- مذکر- یو قسم پوستین- (۲)د وریښمینی کپړی یو قسم وریښمین ټوکے-

خزان:(خَ-زانْ)اسم- واحد- مذکر- (۱)د بهار ضد- منے- د اوړی او ژمی مېنځنے موسم- د ژمی د مخې موسم چې د ونو پاڼې پکښې رژی- (۲)زوال- بې رونقی-

خزانچی:(خَ-زانَ-چی)اسم صفت- واحد- مذکر- خزانه دار- خزانه ساتونکے- په خزانه کښې د روپيو ذمه وار- جمع خزانچيان-

خرانول:(خَ-را-نه-ول)مصدر متعدی- (۱)مراوی کول- جینګړول- شیته کول- (۲)رژول- تویول- (افغانستان)-

خزانه:(خَ-زا-نه)اسم- واحد- مؤنث- خورزونه- خزانه- هغه ځائې چې پکښې روپۍ پیسې، سره زر او سپین زر ساتلے شی- روپۍ- مال دولت- بینک- جمع خزانې-

خزانه دار:(خَ-زا-نه-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- صراف- خزانچی- د خزانې ساتونکے- خزانه لرونکے-

خزانیدل:(خَ-زا-نې-دَل)مصدر لازم- مراوی کېدل- جینګړېدل- شیته کېدل- (۲)تونیدل- رژېدل- تلېدل- (افغانستان)-

خزدکه:(خَز-دَ-که)اسم- واحد- مؤنث- ټخرے- ګونګټې- غزانې- غزاړی- ګونګټه- مرعیانه- جمع خزدکې-

خزری:(خَز-ری)اسم- جمع- مؤنث- (۱)زړې وړې ټوټې- (۲)جامې- کالی-

خزرے:(خَ-زَ-رے)اسم- واحد- مذکر- ککه- خشوځکے- ککرے- د روټۍ پوټے- پېر لو- جمع خزری-

خزف:(خَ-زَف)اسم- کودے- کوډړے- ټیکرے- کودرے-

خزکے:(خَز-کے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم لرګے چې تړې نه د ټوپک وغیره کُنداغ جوړولے شی- جمع خزکی-

خزله:(خَز-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱) یو قسم بوټے چې جامې پرې وینځلے شی- جمع خزلې- (۲)خځله- خاشه-

خزمه:(خَز-مه)اسم- واحد- مؤنث- بنکار ته د پټېدو ځائې- د ګز ځائې- پټونے- خزه- بارہ- پټونے- جمع خزمې-

خزنده:(خَ-زَن-ده)اسم/فاعل- خوزندکے- حشره- ماران لړمانان- چینجی مینجی- میږی، وینځ او داسې نور چینجی چې سوړو او ګټونو وغیره کښې استوګه لری-

خزوکه:(خَ-زُو-که)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم چینجے چې په غشیانو کښې پیدا کیږی-

خزه:(خَ-زه)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: خزمه-

حزه:(خه-زه)اسم- واحد- مؤنث- خاره- د تمر تیره- شاخته- د ټبر پېره- جمع حزی-

خزی:(خه-زی)اسم- (۱)وګوری: ارغونکے- (۲)مورچه-

خزیزکے:(خَ-زیز-کے)اسم- واحد- مذکر- خزیزکے- پزغمے- لوبک- پېپ- مبخکے- د سرو یا سپینو د چارګل په طور په پوزه اچولے کېدونکے یو قسم پسول-

خزیزکے:(خَ-زیز-کے)اسم- واحد- مذکر- وګوری: خزیزکے-

خږ:(خَږ)اسم- خیږ- پیږ- پړچوخے- پوټکے- پټخے- د پوهر پټرے-

خږ:(خَږ)اسم صوت- خږا- هغه اواز چې د ښاروؤ د حلالولو په وخت ئې د مری نه راوځي-

خږ:(خَږ)اسم- تور لمے- بیلونګړے- خږ- وګوری: خږ-

خږا:(خَ-ږا)اسم صوت- وګوری: خږ (۲)-

خږکے:(خَږ-کے)اسم صوت- خږهار- خږار- خرنجهار- د سینې په بیماری کښې د اخته مریض د سا اخستو په وخت د هغه د سینې اواز-

خږهار:(خَږ-هار)اسم صوت- خراړ- خږهار- خرنجهار- خږکے- وګوری: خږکے-

خس:(خَس)اسم- (۱)خسو- خسنې- چخچی- (۲)لږ څیز- کم مقدار- (۳)کک- بې ارزښته څیز- (۴)لرګے- بالڼ- خشاک- (۵)قطره- تیکه-

خسا:(خسا)صفت- مذکر/مؤنث- سخا- خوسا- خراب- وروست- بدبویه چې چینجی پکښې شوی وی- بدرنګه-

خساتوب:(خسا-توب)اسم- مذکر- وګوری: خساوالے-

خساره:(خَ-سا-ره)اسم- واحد- مؤنث- تاوان- زیان- نقصان- جمع خسارې- (م- عربی)-

خساست:(خَ-سا-سَت)اسم- بخل- شومی- شومتیا-

خساوالے:(خَسا-وا-لے)اسم- سخاوالے- وروست والے- بدبوئی- بدشکلی- بدرنګی-

خساوره:(خَسا-وَ-ره)اسم- د یو دارو بوټے- سخاوره- نباتاتی نوم- اکورس کیلمس اوډوریټس (ACORUS CALAMUS ODORATUS)-

خساوره:(خَسا-وَ-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: خساوره-

خسبون:(خَس-بُونْ)اسم- واحد- مذکر- خسبه- هغه کس چې د ځنګل یا غره نه خشاک راوړی- جمع خسبانه-

خسبونتوب:(خَس-بُونْ-توبْ)اسم- خسبه توب- د خسبون کار-

خسبه:(خَس-به)اسم- واحد- مذکر- وګوری: خسبون-

خسبه توب:(خَس-به-توبْ)اسم- د خسبه کسب- لرګی راوړنه-

خستوکی:(خَس-تو-کی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- د کجورې په مینځ کښې کلک زنے (زوني)- د کجورې تاکی- د کجورې مهوکے-

خستنے:(خَس-تَ-نے)اسم- واحد- مذکر- پهه- خسنے-

خسته:(خَس-ته)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- (۱)زده- زهیلے- بدحال- پرېشان- (۲)بسمې بسمې- خوږین- (۳)خفه- زهیر- (۴)ژوبل- زخمی-

خستکے:(خَس-تَه-کے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم خړرنګے چینجے-

خستوسکے:(خَس-تُوس-کے)اسم- خړلے- خستکے- خړ رنګ لرونکے یو چینجے-

زېر"(ځ‍ـیـه‍ـره)، "زورکے"(ش‍ل)، "پېښ"(ئو‍ـکيا‍ـره)، "زېر"(ا‍ـستاب)، "جزم"(شکون)، "ه"(ز‍ـوه)، "ه"(ړو‍ـسې‍ـده)

www.pukhto.net

خس خس:(خس-خس)صفت- نره ذره- ټوټې ټوټې- نرې نرې- ريجې ريجې- ريز مريز-

خُس خُس:(خُس-خُس)اسم صوت- پس پس- په غوږونو کښې پټې پټې خبرې کونه-

خس خشاک:(خس-خ‌شاک)اسم- خلهل- بالن- بالڼ-

خسر:(خُسُر)اسم- واحد- مذکر- خُسر- سخر- دُ سړي دُ ښځې پلار يا د ښځې دُ خاوند پلار- جمع خُسران-

خسرکے:(خ‌سر-کے)اسم- واحد- مذکر- د روټۍ نرے پوټے-خحوڅکے-

خسرګنۍ:(خُسر-ګ-نۍ)اسم- واحد‌بجمع- مؤنث- سخرګنۍ- دُ سخر کورنۍ-

خسره:(خس-ره)اسم- واحد- مؤنث- دُ زمکو وغيره هغه فهرست چې پټواريان يُ دُ زميندار دُ نوم ملکيت دُ رقبې او دُ فصل دُ تفصيل دُ يادښت دُ پاره پکاروي-

خسره نمبر:(خس-ره-نم-بر)اسم- هغه نمبر چې پهٔ خسره کښې درج وي-

خسرے:(خس-رے)اسم- دُ پروې خاشه- لوه پروې-

خسر:(خ‌سر)اسم- واحد- مذکر- (۱)خسرے- خسنے- خلے- تيلے- (۲)پوټکے- بکمکے- (۳)خساک-

خسرے:(خ‌سه-رے)اسم- وګورئ خسر- جمع خسرې-

خسزکے:(خ‌سز-کے)اسم- زړے- خخوزکے- خخوسکے- دُ پروې پوټے- دُ پروې حسوزے-

خسک:(خ‌سک)اسم- واحد- مذکر- (۱)دُ غوږونو خيرے- (۲)خسکی توت چې قلم پکښې لګېدلے وي او توتان يُ دُ خوراک جوګه نهٔ وي-

خسک:(خ‌سک)اسم- (۱)مونګڼ- کټمل- سرخکے- منګوره- (۲)خاشه- (۳)دُ ماشومانو يوه مشهوره بيماري- (۴)کم اصل- بد اصل- (۵)هغه ميوه داره وَنې چې قلم پکښې نهٔ وي لګولے شوے-

خسکه:(خس-که)اسم- واحد- مؤنث- پهٔ ديوال کښې پرېښودے شوے چاود- جمع خسکې-

خسکه:(خ‌سه-که)اسم- واحد- مؤنث- کونګټه- جمع خسکې- (افغانستان)-

خُسکېدل:(خُس-کې-دَل)مصدرِ لازم- خوزېدل- رپېدل- بوخبوخی کول- حرکت ورکول-

خسکېدلے:(خُس-کې-دَ‌لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خسکېدلي- مؤنث خسکېدلې- وګورئ خسکېدل-

خسکېدن:(خُس-کې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ خسکېدل-

خسکېدنګ:(خُس-کې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ خسکېدل-

خسکېدنه:(خُس-کې-دَ‌نه)حاصلِ مصدر- وګورئ خسکېدل-

خسکېدونکے:(خُس-کې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خسکېدونکي- مؤنث خسکېدونکې- وګورئ خسکېدل-

خسکېدهٔ:(خُس-کې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دُ ماضی استمراری دُ واحد غائب صيغه- وګورئ خسکېدل-

خسکے:(خس-کے)اسم- واحد- مذکر- خخوزے- د روټۍ وړه ټوکره- جمع خسکي-

خسمان:(خس-مان)اسم- واحد- مذکر- (۱)خسنے- خسکے- خړرنګے کوبکټ- (۲)سپک سړے- (۳)ضامن- (۴)مصر-

خسمان ليک:(خس-مان-ليک)اسم- ضمانت نامه- (افغانستان)-

خسمانو:(خُس-ما-نو)اسم صفت- وګورئ خسمانی-

خسمانه:(خُس-ما-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)غمخوري- پالنه- غمخواري- (۲)ضمانت-

خسمانه توب:(خس-ما-نه-توب)اسم- غمخوري- غم خوړګی-

خسمانه ګر:(خس-ما-نه-ګر)اسم صفت- مذکر- (۱)خسمانه وال- پالونکے- خدمت کونکے- (۲)غمخور-

خسمانه وال:(خس-ما-نه-وال)اسم- وګورئ خسمانه ګر-

خسمانی:(خس-ما-نی)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)خسمانو- ضامن- ضمانتي- ذمه وار- ذمه يا ضمانت ورکونکے- (۲)دروېمګرے- مينځ کښې راتلونکے-

خسنے:(خس-نے)اسم- واحد- مذکر- وېران- ګوراټه- جمع خسني-

خسکے:(خ‌سن-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱) دُ وړو ماشومانو دُ يوې لوبې نوم- (۲)خسمان- يو خړرنګے کوبکټ-

خسوره:(خ‌سو-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ خسرزه-

خسوره:(خ‌سو-ره)اسم- واحد- مؤنث- پېره وړه ذره- وړه ټوټه- خخنکے- خسوره- خسنکے-

خسوف:(خ‌سوف)اسم- (۱)دُ سپوږمۍ تندر نيونه- (۲)بر- (م- فارسی)-

خسوکے:(خ‌سو-کے)اسم- واحد- مذکر- ګنګخرے- خسنے- خسوسکے- پاتېرے- نرې وابښه- دُ خس مومره- جمع خسوکي-

خسی:(خ‌سی)صفت- واحد- مذکر- وګورئ خصی- (د خصی غلطه املا)-

خسی توب:(خ‌سی-توب)اسم- مذکر- (۱)خصی توب- نامرد والے- کمزوري-

خسيس:(خ‌سيس)اسم صفت- واحد- مذکر- شوم- کنجوس- بخيل- سخت- سپېره- چې نهٔ پهٔ ځان خرڅ کوي او نهٔ پهٔ بل-

خسيکی:(خ‌سی-کی)اسم- هغه غونبه چې ميوکې ورسره وي-

خسيل:(خ‌سيل)اسم- (۱)خيد- خويد- د غنمو او اربشو بوټے چې يو لېښت لوړ وي- (۲)يو قسم وابښه-

خسے:(خ‌سے)اسم صفت- خُشے- بې کاره- بې ښې- بې توښې-

خسے:(خسے)اسم- يو قسم غريږ بوټے- (افغانستان)-

خش:(خَش)اسم- (۱)غېږ- آغوش- (۲)خواښې-

خشاک:(خ‌شاک)اسم- بالڼ- دُ سوزولو لرګی- بالن-

خشلند:(خشاند)اسم- واحد- مذکر- شحوند- جپ-

خشان:(خشان)صفت- ذليل- کمينه- مؤنث خشانه- جمع مؤنث خشانې-

خشاوره:(خشاو-ره)اسم- واحد- مونث- وګورئ خساوره-

ی" (ځی-رل)، ي"(ځي-ره-وَل)، ی"(پيا-ليی)، ے"(ټن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

خشانی:(خ-شا-نی)اسم- حشان- عوسانی- حشوی- غوشیان-

خشپل:(خش-پل)اسم- جلپل- (افغانستان)-

خشت (خَشت)صفت- تر- په اُبو کښي لوند- نمژن- حشت پښت- مؤنث خشته-

خشت پښت:(خشت-پښت)اسم صفت- واحد- مذکر- خیشت پیشت- لوند خُشت- چپ جوپ- مؤنث خُشته پښته-

خشتکے:(خش-تـ-کے)اسم- خښتکے- یوه وړه بري ګټېزه دَ کپړې ټوټه چې د قمیص په ترخ کښې د مضبوطیا د پاره لګولے شي-

خشتول:(خش-تـ-ول)مصدر متعدي- خیشتول- لوندول-

خشتون:(خش-تـ-ون)حاصل مصدر- وګورئ خشتول-

خشتونکے:(خش-تـ-ورن-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خشتونکي- مؤنث خشتونکې- وګورئ خشتول-

خشتونګ:(خش-تـ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خشتول-

خشتونه:(خش-تـ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ خشتول-

خشتېدل:(خش-تې-دل)مصدر لازم- لوندېدل-

خشتېدن:(خش-تې-دن)حاصل مصدر- وګورئ خشتېدل-

خشتېدنګ:(خش-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ خشتېدل-

خشتېدنه:(خش-تې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ خشتېدل-

خشتېدونکے(خش-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خشتېدونکي- مؤنث خشتېدونکې- وګورئ خشتېدل-

خشتېدهٔ:(خُش-تې-دهٔ)حاصل مصدر او ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ خشتېدل-

خشخاش:(خش-خاش)اسم- واحد/جمع- مذکر- قشقاش- قاش قاش- خاش خاش- دَ کوکنارو یا وړوی دَ غټېو هر رنګه مېده مېده تخم- دَ نباتاتي نوم د پاره وګورئ خاشخاش-

خشک:(خشک)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)وُچ- شنه- کلک- (۲)بې اُبو- سپور- بې نمه-

خشکاوه:(خش-کا-وه)اسم صفت- (۱)وُچ کال- خُشک سالي- سوکړه- وچوبے- قحط- (۲)خشک مېدان- وچه مېره- هغه زمکه چې صرف دَ باران په اُبو اُبیږي-

خشک سالي:(خشک-سا-لي)صفت- وګورئ خشکاوه-

خشکول:(خش-ک-ول)مصدر- وچول-

خُشکه:(خُش-که)اسم- واحد- مؤنث- خوشکه- (۱)وچه زمکه- دَ تری ضد- خُشکي- (۲)ساده پیکه یشېدلي وریژې- (۳)هغه اوړهٔ چې نانبایان ئ په تخته دَ پېړو لاندې اچوي- (۴)سیاهي چوس-

خشکي:(خش-کي)اسم- واحد- مؤنث- وچه زمکه- وچه مېره- (۲)صفت- تند خویٔ- غصه ناک- (۳)سختي- (۴)سپورروالے- (۵)دَ سر یوه بیماري- وګورئ خوشکي-

خُشکے:(خُ-شه-کے)اسم تصغیر صفت- واحد- مذکر- دَ "خُشے" اسم تصغیر- وګورئ خُشے-

خشم:(خ-شم)اسم- (۱)غصه- قهر- سوحت- خفګان- (۲)ګرمي-

خشمناک:(خ-شم-ناک)اسم صفت- غصه ناک- قهرژن-

خشمی:(خش-می)اسم صفت- واحد- مذکر- بد خشمه- بد خویه- تُند خویه- بد مزاجه- ګور وروکے- هغه څوک چې تل ئ تندے او وروځې ګورې ببولې وي-

خشن:(خ-شن)اسم- واحد- مذکر- دَ روټۍ نمرې- سوبي- یوه مرۍ- نوړې-

خش:(خش)اسم- شخوند-

خشنک:(خ-شنک)صفت- (۱)ناوره- مغرور- متکبر- لوئ نطرے- دَ چا خبره نهٔ منونکے- سمه خبره په بده معنی اخستونکے- هغه څوک چې هر وخت غصه غصه وي- (۲)هغه څاروے چې لاس نهٔ منې- اری مار او لتې څاروے- تربدلے-

خشنکوب:(خ-شنک-توب)اسم- سرکشي- خشنګي- شوخي-

خشنګي:(خ-شنګ-ګي)اسم- وګورئ خشنکوب-

خشنود:(خش-نود)صفت- اسوده- خوشحال- مور- پت- (م- فارسي)-

خشنودي:(خش-نو-دي)اسم- اسودګي- خوشنودي- (م- فارسي)-

خشنهٔ:(خش-نهٔ)اسم- جمع- خاشنهٔ- خشنهٔ- خرشین- خرشینهٔ- خاشینهٔ-

خشنهٔ:(خش-نهٔ)اسم- وګورئ خشنه-

خشوع:(خ-شوع)اسم- عاجزي- انکساري- (م- عربي)-

خشوے:(خ-شه-وے)اسم- واحد- مذکر- عوشانی- خرشین- خوسیاني-

خشے:(خش-شے)اسم- مذکر- هغه ټول سامان چې دَ وادهٔ نه وړاندې دَ زلمي دَ کوره دَ ناوې کره وړلے شي- دا دَ وادهٔ یو رسم دے-

خشیانه:(خش-یان-ه)اسم- مؤنث- دَ خرو یا اَسپو خاشنهٔ-

خُشے:(خُ-شے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)یواځې- یله- بې کاره- عبث- (۲)بې خوده- سودائي- لېونے- جمع خُشي-

خُشے تشے:(خُ-شے-تشے)اسم صفت- واحد- مذکر- بې کاره- عبث- معمول-

خښتکے:(خښ-تـ-کے)اسم- د کپړې هغه درې ګټېزه ټوټه چې دَ قمیص ترخ کښې د مضبوطوالي د پاره لګولے شي- جمع خښتکي-

خښتګ:(خښ-تګ)اسم- واحد- مذکر- د پرتوګ دَ منځ ټوټه-

خښته:(خښ-ته)اسم- واحد- مؤنث- لهٔ خټې د قالب په ذریعه جوړ شوے هغه مستطیل نما سله چې د مکانانو په جوړولو کښې پکارولے شي- (م- فارسي- خشت)-

خښم:(خ-ښم)اسم- غصه-

خښے:(خ-ښے)اسم- واحد- مذکر- لمسے- ټاټې-

خصام:(خ-صام)اسم- دَ خصیم جمع- جنګیالي-

خصلت:(خص-لت)اسم- واحد- مذکر- (۱)عادت- خویٔ- غونے- ذاتي صفت-

www.pukhto.net

کردار- تاثیر- خاصیت- (۲)طبیعت- مزاج- جمع خصلتونه-

خصم:(خ-صَم)اسم- دشمن- مرخے- میرخمن- میرخن- میرځ- میرځے- (۲)خاوند- مالک- (م- عربي)-

خصمانه:(خَص-ما-نه)اسم- واحد-مؤنث- څوکي- څوکیداري- نګراني- امن کښې ساتنه- سلامتیا- په نظر کښې ساتل- (م- فارسي)-

خصمړے:(خَ-صَ-مَ-ړے)اسم- واحد- مذکر- خاوند مړے- يو کنځل-

خصوص:(خُ-صوص)اسم- خاصونه- په فرق کونه- ځانګړې کونه-

خصوصاً:(خُ-صو-صن)متعلق فعل- په خاص ډول- په تېره- علی الخصوص- په تېره تېره- خاصتاً-

خصوصي:(خُ-صو-صي)صفت- (۱)پواځې- يواځینے- خاص- (۲)په خاص ډول- په خاص شکل- په خاص نظم- (۲)شخصي- د ځان-

خصوصیت:(خُ-صو-صي-یت)اسم- خاص خوئ- خاص خوئ او صفت- خوبي-

خصومت:(خُ-صو-مت)اسم- دُشمني- بدي- دښمني-

خصي:(خَ-صي)اسم صفت- واحد- مذکر- ټکېدلے ګاروے چې په ماده د ختلو قابل نهٔ وي-

خضاب:(خِ-ضاب)اسم- واحد- مذکر- وسمه- د سپینو ویښتو د تورولو رنګ- د نکریزو اوړهٔ کړی پاڼي-

خضر:(خِ-ضر)اسم- (۱)د يو پېغمبر نوم- (۲)لارښود- رهبر- لار ښودونکے-

خضوع:(خُ-ضوع)اسم- تواضع- عاجزي- خاکساري- کم نوصي- کمیني-

خط:(خط)اسم- واحد- مذکر- (۱)چیټي- لیکلے کاغذ- لیک- تحریر- (۲)کرښه- د څو نرو ټکو يوځاې کېدنه- (۲)حجامت- تازه راټوکیدلي ږیره-

خطا:(خَ-طا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)جرم- قصور- غلطي- خطائي- تېروتنه- غولېدنه- (۲)په نیښه نهٔ لګېدنه- نا رسا- (۲)کم اصل- بد ذات- جمع خطاګاني-

خطا ایستل:(خَ-طا-اِیس-تل)مصدرِ ترکیبي- تېر ایستل- غولول- خطا کول- تېرباسل-

خطاب:(خِ-طاب)اسم- واحد- مذکر- تقریر- کلام- خبره- (م- عربي)-

خطابه:(خِ-طا-به)اسم- واحد- مؤنث- (۱)بیانیه ویناء- خبرې کونه- (۲)خطبه وینه- خطیب کېدنه- (م- عربي)-

خطاط:(خَ-طاط)صفت- خوش نویس- ښهٔ خط لیکونکے- (م- عربي)-

خطاطي:(خَ-طا-طي)اسم- د خطاط پېشه او کار-

خطا کار:(خَ-طا-کار)صفت- خطا کونکے- تېروتونکے- سهوه کونکے- ګناه ګار-

خطا کاري:(خَ-طا-کا-ري)اسم- د خطا کېدو حالت-

خطا وتل:(خَ-طا-وَ-تل)مصدر- تېروتل- غولېدل- غلطېدل-

خطاوي:(خَ-طا-وي)اسم- جمع- مؤنث- غلطي- ګناه ګاني- ګناهونه- خطاګاني-

خطائي:(خَ-طا-ئي)اسم- واحد- مؤنث- خطاء- ګناه- غلطي- تېروتنه- خطا کېدنه- په خطا يو کار کونه- په هېره سره کونه- غلطېدنه- په غلطي کېږي-

خطبه:(خُط-به)اسم- واحد- مؤنث- د خطیب خبرې- خطابه-

خطر:(خَ-طر)اسم- (۱)خطره- (۲)هغه څهٔ چې د تباه کېدو او هلاکت سبب جوړیږي- (۲)تاوان- ضرر- زیان- د ځاني یا مالي زیان احساس یا امکان-

خطرناک:(خَ-طر-ناک)اسم صفت- مذکر- د خطر نه ډک- پُرخطر- د خطرې- خطري-

خطره:(خَط-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ خطر-

خطري:(خَ-طَ-ري)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ خطرناک-

خط کش:(خَط-کَش)اسم- پیمانه- هغه آله چې په کاغذ یا لرګی پورې کرښې راکښلے کیږي- (افغانستان)-

خط کشي:(خَط-کَه-شي)اسم- کرښې ایستنه- کرښې راکښنه- لیکې جوړونه- کیلې راکښنه- خطونه ایستنه-

خط کر:(خَط-کَر)اسم صفت- په اومو رږېو ګلکاري کونکے- جمع خط ګران-

خط مشي:(خَط-مَشي)اسم- پالیسي- سیاست- کړنلاره- مشي- (افغانستان)-

خطمي:(خط-مي)اسم- خیرو ګل- توته ګله- يو قسم بوټے چې پنډر ئې ډېر او لوړ وي او سور او سپین ګل لري- همیشه شین وي د ګل پاڼي ئې په دارو کښې پکارولے شي- نباتاتي نوم اېلتهیا آفسي نیلس ALTHAEA OFFICINALIS-

خطه:(خِ-طه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د زمکې يوه حصه-(۲)ملک-

خطي:(خَه-طي)صفت- (۱)د خط سره متعلق- قلمي- (۲)هغه کار چې د ټيپ نه پس د مېرال د ښانست او مضبوطیا د پاره کولے شي-

خطیب:(خَ-طیب)اسم- واحد- مذکر- خطبه لُستونکے- خطبه ویونکے- واعظ- ویناند- جمع خطیبان-

خطیر:(خ-طیر)اسم صفت- سترٔ- مهم- عت-

خفا:(خ-فا)اسم فعل- پټ- پټ په پټه- په پټه-

خفت:(خ-فت)اسم- سپکاوے- سپکوالے- سپکتیا- سپکه- د ثقل ضد-

خفتن:(خُف-تن)اسم- نماسخوتن- د نماسخوتن وخت-

خفقان:(خَف-قان)اسم- (۱)حپکان- خفګان- د زړهٔ درزېدنه- يو مرض چې د زړهٔ حرکت پکښې تېز شي او زړهٔ ژر ژر ټوپونه وهي- (۲)ډېر زیات وهم- دلګیرتیا-

خفک:(خ-فک)اسم- خپګه- ترلمے- وګورئ خپګه-

خفګان:(خَف-ګان)اسم- وګورئ خفقان-

خفکي:(خَف-کي)اسم- ناراضګي- حفګان- قهر- غصه- (م- فارسي)-

خفه:(خ-فه)اسم صفت- ملال- غمګین- ناراض- سوخته- بې طبعې- قهرېدلے-

خفي:(خ-في)صفت- پټ- غلے- ناڅرګند- د جلي ضد-

خفیف:(خ-فیف)صفت- (۱)سپک- (۲)لږ- کم- کم وزنه- (۲)تت-

www.pukhto.net

خفیه:(خُفْ-یه)صفت- پټ- په پرده کښې- په راز کښې-

خکان:(خَ-کان)اسم- کیخې- یو قسم بېړ وروکې چینجې چې د ماشومانو د لویو بولو په ځای کښې کیږي-

خکوت:(خَ-کوټ)اسم- مالیه- باج- اخراج-

خکاره:(خَکا-ره)اسم- ګټه- سود- فائده- بهبودي- بریې- غلبه- فتح- ور والې-

خل:(خل)اسم- (۱)مړاوې ګل- (۲)سرکه-

خل:(خَل)اسم- (۱)عقیده- باور- یقین- (۲)امید- هیله- (۳)د "خال" مخفف-

خلا:(خَ-لا)اسم- واحد- مؤنث- تش ځای - تش والې- په هوا کښې خالی ځای- وږون- جمع خلاګانې-

خلات:(خِ-لات)اسم- واحد- مذکر- (۱)د بادشاه له طرفه د جامو بخښش- پوښ- (۲)هغه پیسې چې د لور د واده په وخت د زوم له طرفه د ناوې ماما ته ورکولې کیږي- (۳)د کوژدني په وخت په حاضرو خلقو کښې د جیبي یا د ملک د پلار له طرفه د پیسو ویشنه-

خلاس پلې:(خَلاس-پلې)اسم- واحد- مذکر- (۱)املتاس- لانیېس- د نباتاتي نوم د پاره وګورئ: املتاس-

خلاص:(خلاص)اسم- (۱)خَشې- پرانستې- پرانتې- (۲)آزاد- بې غمه- (۳)ختم- تمام- (۴)وزګار- (۵)انزال-

خلاص مند:(خلاص-مند)اسم صفت- واحد- مذکر- اخلاص مند- اخلاصې- (۲)چې په منصبي کښې طرفداری نه کوي-

خلاصوالې:(خَلاص-والې)اسم- (۱) ازاد والې- (۲)بېپرته والې- (۳)تمام والې- ختموالې- (۴)بشپړ والې- (۵)وزګار والې-

خلاصول:(خَلا-ص-ول)مصدر متعدي- (۱)ازادول- خشې کول- خپلې ازادۍ ته پرېښول- (۲)وازول- بېرته کول- (۳)پای ته رسول- تمامول- بشپړول- فیصله کول- (۴)رخل- (۵)انزالول-

خلاصون:(خَلا-صون)اسم- (۱)ازادي- ازاد والې- نجات- بچ- (۲)خلاصېدن- د جنګ جګړې خلاصونه-

خلاصون:(خَلا-ص-ون)حاصل مصدر- وګورئ: خلاصول-

خلاصونکې:(خَلا-ص-وُن-کې)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خلاصونکي- مؤنث خلاصونکې- وګورئ: خلاصول-

خلاصونګ:(خَلا-ص-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ: خلاصول-

خلاصونه:(خَلا-ص-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ: خلاصول-

خلاصونې:(خَلا-صو-نې)اسم فاعل- د "خلاصول" مصدر نه اسم فاعل- وګورئ: خلاصول-

خلاصه:(خَلا-صه)اسم صفت- واحد- مؤنث- د "خلاص" مؤنث- وګورئ: خلاص-

خلاصه:(خُ-لا-صه)اسم- واحد- مؤنث- لنډون- لنډیز- لنډه- تلخیص-

خلاصه خله:(خلا-صه-خله)اسم- کوژه- بوزه- د ژوري ضد-

خلاصې:(خَ-لا-صې)اسم- واحد- مذکر- (۱)خلاصې- تمبوان- خمې وغیره لګونکې نوکر- (۲)د رېل، جهاز یا کارخانې کار کونکې مزدور-

خلاصېدل:(خَلا-صې-دَل)مصدر لازم- (۱)ازادېدل- ازادي موندل- خشې کېدل- (۲)وازېدل- بېرته کېدل- (۳)تمامېدل- پای ته رسېدل- بشپړېدل- (۴)رنځل- (۵)انزالېدل- انزال کېدل-

خلاصېدن:(خَلا-صې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ: خلاصېدل-

خلاصېدنګ:(خَلا-صې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ: خلاصېدل-

خلاصېدنه:(خَلا-صې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ: خلاصېدل-

خلاصېدون:(خَلا-صې-دون)حاصل مصدر- (۱) خلاصون- ازادېدن- ازادېدنه- (۲)ختمېدنه- سر ته رسېدنه- (۳)په ټوپک یږ کول- د ټوپک په ماشه ګسې کېښول او راخلاصول-

خلاصېدونکې:(خَلا-صې-دون-کې)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خلاصېدونکي- مؤنث خلاصېدونکې- وګورئ: خلاصېدل-

خلاصېدونې:(خَلا-صې-دو-نې)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خلاصېدوني- مؤنث خلاصېدونې- وګورئ: خلاصېدل-

خلاصېده:(خَلا-صې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ: خلاصېدل-

خلاصې:(خَلا-صې)اسم- واحد- مذکر- (۱)خلاصون- ازادي- خپلواکي- خشې کېدنه- (۲)علاج- حل- چاره-

خلاف:(خِ-لاف)اسم- (۱)مخالفت- وړانې- (۲)د موافقت ضد- (۳)دروغ- (۴)نابرابر والې- (۵)سرغړونه-

خلاف بیانی:(خِ-لاف-بیا-ني)اسم- دروغ- له حقیقته برخلاف بیان-

خلافت:(خِ-لا-فت)اسم- جانشیني- د پیغمبر جانشیني- نیابت- امارت- امامت- (۲)په مسلمانانو کښې د حکومت یو طرز- (۳)د خلافت یو تحریک چې هندوستان او نورو اسلامي ملکونو د خلافت عثمانیه د بحال کېدو د پاره چلولې وه- (۴)د پیر جانشیني- (۵)د پیر د طرفه خپل مرید ته ورکړې شوې ایجازه-

خلاف رفتاري:(خِ-لاف-رَف-تا-ري)اسم- سرغړونه- له قانون او مقرراتو نه تېرې- (۲)تقصیر- خطا- جرم-

خلاف ورزي:(خِ-لاف-ور-زي)اسم- مؤنث- خلاف کونه- اصول ماتونه- قانون ماتونه-

خلاق:(خَل-لاق)صفت- (۱)رامنځ ته کونکې- جوړونکې- پیدا کونکې- د یو نوي څیز راپیدا کونکې- (۲)د خلاقیت لرونکې- (۳)د خدای د نومونو نه یو نوم-

خلاقه:(خَل-لا-قه)صفت- پیدا کونکې- هست کونکې- شته کونکې-

خلاقیت:(خَل-لا-قي-یت)اسم- د نوي څیز د پیدا کولو قدرت- د ایجاد او نوي څیز پیدا کولو توان- د تخلیق کار-

خلال:(خِ-لال)اسم- (۱)نرې لرګې چې د څه څیز په منځ کښې اېښوې شي- (۲)د څه څیز مینځ- (۳)د ګټو تېرونه- د چاراندام په وخت پېره

www.pukhto.net

کښې نوندې گټې تېروته- (۴)دَ نارنج پوستکے یا گاڅره چې نرې نرې پرې شي-

خلا ملا (خ-لا-مَ-لا)صفت- (۱)بې ريا- رېښتونے- صاف- سپين ويونے- سپينه ويونکے- (۲)آزاد- خسور-

خلائي:(خ-لا-ئي)اسم صفت- هوائي- فضائي-

خلباندے:(خَل-بان-دے)صفت- دَ يقين قابل- يقيني- چې يقين پرې شوے وي-

خلبورے:(خل-بو-رے)اسم- واحد- مذکر- پاڼ- بوجه- بوړے- خلپوتے- خلپورے- جمع خلبوري-

خلپټه:(خَل-پَټه)اسم صفت- واحد- مذکر- چپ چاپ- غلے- خاموش- چُپه خُله- چې غږ غوږ نه کوي-

خلپسکي:(خَل-پَه-س-کي)اسم- په خاورو کښې دَ چرگو لغړېدنه-

خلپکي:(خل-پَ-کي)اسم- جمع- مؤنث- خلپلکي- دَ چرگ لتکي- دَ چرگ گپلې- په خاورو کښې دَ چرگ، زرکې، مرز او داسې نورو مرغانو لتې وهنه-

خلپل:(خَل-پل)اسم- (۱)خس وخشاک- خخلې- خاشې پوشې- (۲)دَ کوټخلې ميده خاورې- نرې- خلپلې-

خلپلکي:(خَل-په-له-کي)اسم- جمع- مؤنث- وگورئ خلپکي-

خلپلې:(خَل-پَ-لي)اسم- جمع- غوڅکي- خسني- کنډيارې-

خلپوتے:(خل-پو-تے)اسم- واحد- مذکر- وگورئ خلبورے-

خلپورے:(خَله-پو-رے)اسم- واحد- مذکر- وگورئ خلبورے-

خلپه:(خَل-په)اسم- واحد/جمع- مؤنث- يو قسم ساگ- خرفه- نباتاتي پورتولیکا اولیریشیا (PORTULACA OLERACEA)-

خلتکه:(خَل-ت-که)اسم- واحد- مؤنث- دَ بېږيو، سپېنتو او بجلو يو قسم لوبه- جمع خلتکې-

خلتکي:(خَل-تَ-کي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- بوخکې- بوجکې-

خلتکي:(خل-تَ-کي)اسم تصغير- واحد/جمع- مؤنث- (۱)بوجکې- بوجينکړې- بوخکې- هميانې- تېلۍ- گوټې- (۲)پنجره- وړه شان خلته-

خلتم:(خَل-تَم)اسم- واحد- مذکر- وگورئ خرتم-

خلته:(خَل-ته)اسم- واحد- مؤنث- کوټ- کميس- کُرتې- کُرته- (۲)خرځې- کڅوړه- کڅوړې- پاکټ- لفافه- خليته- (۳)سرپوښه ټوکرې- جلته- (۴)د مرزو د ساتلو پنجره- (۵)سره- د بالښت اچاړ-

خلتيمي:(خَل-تي-مي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دَ جنځو دَ وېښتو کڅوړه يا خلته- (افغانستان)-

خلجان:(خَل-جانَ)اسم- فکر- اندېښنه-

خلخکے:(خَل-خه-کے)اسم- څرخ لرگے- څرخکے- جمع خلخکې-

خلچن:(خَل-چِن)صفت- خيرن- خچن- پخن- ناولے-

خلچے:(خَل-چے)صفت- واحد- مذکر- خچن- خيرن- پخن- خلچن-

خلڅيرے:(خَل-څي-رے)اسم صفت- فضول بکواس کونکے- بکواسي- خلڅيرې-

خلخالکي:(خَل-خال-کي)اسم- پازيب- پينزيب- (کاکړ)-

خلخل:(خَل-خَل)اسم صفت- واحد- مذکر- لوئ- ارت بيرت- بې اندازې لوئ- بې جوړه غټ- بې طريقې غټ-

خلخلکے:(خَل-خ-ل-کے)اسم- واحد- مذکر- کته کول- کچه کول- گټ لوبه- د ژمي يو قسم لوبه چې د دوو پلو تر مينځه کيږي- د يوې پلې يو تن څه څيز په لاس کښې نيسي او نور هغه څيز پيدا کوي-

خلد:(خلد)اسم- واحد- مذکر- د ښامې سورے چې ډيره زوه پرې راوځي-

خلستر:(خ-لس-تَر)اسم- زره بروستن- زوړ تلتک- زوړ کنځړ- امبارخې- (افغانستان)-

خلص:(خُ-لص)صفت- لنډون- لنډيز- لنډ- تلخيص- تخليص-

خلص:(خُ-لَص)صفت- دَ خالص جمع-

خلط:(خلط)صفت- گډوډ- گډولے- گډ- گډ شوے-

خلع:(خ-لع)صفت- (۱)موقوف- له ځايه لرې شوے- برطرف- (۲)وَتل- هغه طلاق ته وائي چې د مال په بدل کښې ورکړے شي-

خلعت:(خل-عت)اسم- وگورئ خلات-

خلف:(خ-لف)اسم- (۱)خوئ- زوئ- (۲)صالح اولاد- (۳)ځائ نيونکے- (۴)وروستو راتلونکے- جانشين- (م- عربي)-

خلفاء:(خَل-فاء)اسم- جمع- مذکر- دَ خليفه جمع- خليفه گان- قائم مقام جانشمار-

خلق:(خلق)اسم- (۱)پيدا کونه- پيدايښت- (۲)خلک- اولس- مخلوق-

خُلق:(خُلق)اسم- (۱)عادت- خوئ- طبيعت- رفتار- سلوک- کړه وړه- (۲)کور وړه- زوند-

خلقات:(خَل-قات)اسم- دَ خلق جمع- مخلوق-

خلقت:(خل-قت)اسم- (۱)پيداوښت- (۲)خوئ- مزاج- طبيعت-

خلقت:(خل-قت)اسم- واحد- مذکر- عالم- اولس- مخلوق- جمع خلقتونه-

خلقت:(خل-قت)اسم- مروت- خلق-

خلق تنگي:(خلق-تنگ-گي)اسم- (۱)زړه تنگيدنه- دغوالے- په هيڅ څيز ساعت نه تېريدنه- (۲)دَ زړه له ناروغۍ له کبله زړه تنگيدنه- په چا دَ زړه دوره راتله-

خلق تنگے:(خُلق-تنگ-گے)صفت- واحد- مذکر- زړه تنگے- دغ- هغه څوک چې په هيڅ څيز يَ ساعت نه تيريږي-

خلقه:(خل-قه)اسم- واحد- مؤنث- خرقه- شوغه- شوقه- چپنه- جمع خلقې-

خلقه:(خ-ل-قه)اسم- جمع- مذکر- خلق- خلکې- مخلوقات- مخلوق- گې خلق- جورمې جورمې بنيادمان-

خلقي:(خل-قي)اسم- واحد- مذکر- دَ خلق پارټۍ رکن- کميونسټ- (افغانستان) (۲)هغه کس چې په معاشي مساوات يقين لري او دَ طبقاتي نظام مخالف وي او دَ مذهبي تعصب نه مبّراء وي-

خلقي:(خل-قي)اسم- فطري- تني- ذاتي- قدرتي- ازلي- پيدايشي-

ىَ (ځي-رل)، ي (مي-رم-ول)، ى (ييا-لي)، ے (تن-دے) تفصيل د پاره وگورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

خلقي:(خُل-قي)صفت- خوش خُلقه- خوش خويه- دَ ښو کړو وړو خاوند- خوش اخلاقه-

خلقي:(خ-لَ-قي)اسم- اولسي- د خلقو- دَ خلقو سره متعلق-

خلک:(خ-لک)اسم- خلق- اولس- وګړي- خلک-

خلکتي:(خَل-کَ-تي)صفت- خوږ ژبے- هغه څوک چې خوږې ښکلې خبرې کوي-

خلکه:(خل-که)اسم- واحد- مؤنث- ووړ او ارتبيرت قميص- هغه قميص چې ګرېوان يې خلاص وي- دَ پخوانو مشرانو سرو عامې جامې- خلکې- جمع خلکې-

خلکی:(خل-کی)اسم- واحد- جمع- مؤنث- وګورئ خلکه-

خلکے:(خل-کے)اسم- واحد- مذکر- هغه څيز چې دَ غلبونو نه پرې دَ روټۍ يا غوښې ذرې راويستلے شي- غاښ ټومبوني- هغه څيز چې غلبونه پرې خلالوي- جمع خلکي- (افغانستان)-

خلک:(خ-لک)اسم- وګورئ خلک-

خلګي:(خَل-ګي)اسم- سرې- وګړي-

خلکي:(خَل-کي)اسم تصغير- واحد جمع- مؤنث- ښه- چپه- خله- زړه- شانسته او غنچه غنچه خله-

خلل:(خ-لَل)اسم- واحد- مذکر- نقص- عيب- ضرر- غش- (۲)فساد- وراني- اړ- ځنډ- خلل- په يو کار سره تباهي راوستنه- (م- عربي)-

خللي:(خ-لَ-لي)اسم صفت- (۱)ضرري- تاواني- زيان رسونکے- مضر- ضرر رسونکے- (۲)هغه څوک چې د خلقو په مېنځ کښې فساد پيدا کوي-

خللي:(خه-له-لي)اسم- ګړېنګ- د بوزې بينګې ابۀ- (کاکړ)-

خلما:(خل-ما)اسم- مؤنث- کلي- غُټي-

خلنج:(خ-لنج)اسم- خسکي توت- بدخوده توت- هغه توت چې دانې او تخم لري-

خلنخه:(خلن-خه)اسم- دَ څېړې لويه ونه- دَ نباتاتي نوم دَ پاره وګورئ څېړې-

خلنوم:(خل-نوم)اسم- شونډل-

خلوانړ:(خل-وانړ)اسم- واحد- مذکر- خلونډنے- شوړه- بوجه- خنجکے- خولبورے- خولبوټے-

خلوت:(خل-وت)اسم- وګورئ خلات-

خلوت:(خلوت)صفت- کاواکه- بې واکه-

خورينګتوب:(خو-رينګ-توب)اسم- مؤنث- (۱)ترښخوالے- ايجراتوب- (۲)د خورينګه جوړېدو حالت-

خورينګه:(خو-رينګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- خوريګی- خورينه- خوارخونده- دينی خور- ملګرې- سوبلی- خوربللې- جمع خورينګې-

خورينګی:(خو-رينګ-ګی)اسم- مؤنث- (۱)خوروالی- سوبلی توب- د ښځو پهٔ حپلو کښې دوستی- (۲)د دوؤ جينکو يا ښځو پهٔ حپلو کښې بدکاری کونه-

خوريګی:(خو-رينګ-ګی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- خورينګه- خورينه- دينی خور- سوبلی- ملګرې- خوربللې- خوارخونده-

خورينه:(خو-ري-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ خورينګی-

خوريے:(خو-ريے)اسم- واحد- مذکر- د خور خوئ- جمع خوريی-

خوړېدل:(خو-ړې-دل)مصدر لازم- نشرکېدل- (۲)ويړېدل- اوارېدل- پلنېدل-

خوړېدن:(خوَ-ړې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ خوړېدل-

خوړېدنګ:(خوَ-ړې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ خوړېدل-

خوړېدنه:(خو-ړې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ خوړېدل-

خوړېدونکے:(خو-ړې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خوړېدونکي- مؤنث خوړېدونکې- وګورئ خوړېدل-

خوړېدهٔ:(خو-ړې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ خوړېدل-

خوری:(خو-ری)اسم- واحد جمع- مؤنث- پټکری- پټکټی- زنخ- زمچ- پټکری- پټکی- زمه- سپین زچ-

خورے:(خو-رے)اسم صفت- واحد- مذکر- خوراکی- خورنده- پېرخوره- ربات خوره- پهٔ خوراک کونکے-

خوږے:(خو-ږے)اسم- واحد- مذکر- خاورين- خورين- شيکے- کنډول- خاورين لوښے- (۲)ريښه- نسل- بنياد- خټه- زوريت- (۲)ګل کنه- هغه خائ چې خاوره تری چلولے شی- (افغانستان)-

خوړ:(خوړ)اسم- واحد- مذکر- شبله- سم- لګه- خوړه- توے- لويه رله چې د باران پهٔ ابو اماده وی- جمع خوړونه-

خوړ:(خوړ)اسم صوت- د کلنګو اواز- هوق- د قی يا استفراق اواز- د خواګرځېدو اواز- (کول مصدر)-

خوړ:(خوړ)اسم صفت- واحد- مذکر- يار- ملاتړلے- چمتو-

خوړت:(خو-ړت)اسم صوت- د پوزې د ګرېنګ اواز-

خوړتن:(خوړ-تن)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)چې پوزه ئې بهيږی- (۲)کمزورے- بې کاره- سست-

خوړتول:(خوړ-تَ-ول)مصدر متعدی- د پوزې نه راوتے ګرېنګ دوباره راکښل-

خوړتېدل:(خوړ-تې-دل)مصدر لازم- د پوزې نه راوتے ګرېنګ دوباره راکښلے کېدل-

خوړيچ:(خو-ړيچ)اسم- واحد- مذکر- د نسترن بوټے- (۲)نسترن غُندې يو اغزی لرونکے بوټے- د نباتاتی نوم دپاره وګورئ نسترن-

خوړخوږے:(خوړ-خو-ږے)اسم- واحد- مذکر- خوږخوږے هغه سړے چې پهٔ سپېږمو کښې خبرې کوی-

خوړده:(خوړ-ده)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ خوړده-

ی- (شی-رل)، ي (مې-رم-ول)، ى (پيا-لی)، ے (تن-ـے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

خوړژن:(خوړ-ژن)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)بدرنګه- بد شکله- بد قواره- (۲)کنده- حیرن- (افغانستان)-

خوړسکه:(خو-ړس-که)اسم- واحد- مؤنث- تریخ لوګے- غوروسکه- مُردار، چټل او ګڼ لوګے- (۲)بدبوئی- بد او خراب بوئ- تېز بوئ- چټل بوئ- مُردار بوئ- جمع خوړسکي-

خوړکے:(خوړ-کے)اسم صوت- قهقهارے- د قی کولو پرله پسې اواز- د خواګرځېدو پرله پسې اواز- دَ کانګو کولو اواز-

خوړګه:(خوړ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- پسته او نرمه زمکه- (۲)زوړ او وروست اسباب- انجر او بنجر څيزونه- خوړین کالی- خونجاړی-

خوړکی:(خوړ-کی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- رنجه- زړه لتـه- دَ ټوکړی زړه لتـه-

خوړکی:(خوړ-کی)اسم تصغیر- هغه تنګ او ژوور ځائ چې دَ سېلاب اُبهٔ پکښې بهیږی- خوړه- وړه خوړه-

خوړل:(خو-ړل)مصدر- پوړی خوړل- د خوراک څیزونه پهٔ خُلهٔ کښې دَ میده کولو نه پس د مری پهٔ لاره کښې نه تېرول- دَ خوراک څیزونه دَ مری او خُلې لهٔ لارې خېټې تـه رسول- (۲)چیچل- (۳)زوول- (۴)غصبول- غصب کول- دَ چا پهٔ مال خېټه اچول- (۵)لګېدل- پهٔ ګولی یا کاڼی لګېدل- (۶)کول- (۷)وهل- (۸)خیځرل- (۹)سولول-

خوړلے:(خو-ړلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خوړلی- مؤنث خوړلې- وګورئ خوړل-

خوړن:(خو-ړن)حاصل مصدر- وګورئ خوړل-

خوړنځے:(خو-ړن-ځے)اسم- واحد- مذکر- هوټل- رېسټوران- دَ خوړلو ځائ- دَ خوراک ځائ- (افغانستان)-

خوړنګ:(خو-ړنګ)اسم- واحد- مذکر- کوربله- کوکاره- کوکه- کریفه- غاؤ- چیغه- بغاره- بقه- سوده- (دیر)-

خوړنګ:(خو-ړنګ)حاصل مصدر- وګورئ خوړل-

خوړنه:(خو-ړنه)حاصل مصدر- وګورئ خوړل-

خوړوسکه:(خو-ړوس-که)اسم- واحد- مؤنث- ریات لوګے- (۲)بد بوئ-

خوړول:(خو-ړ-ول)مصدر متعدی- خوړول- پهٔ چا روټی خوړل- (۲)دَ لوښی پهٔ اُبو کښې د سا اخستو پهٔ وجه اواز پېدا کول- (۲)پهٔ اُبو کښې غوپه ورکول-

خوړولے:(خو-ړ-ولے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خوړولی- مؤنث خوړولې- وګورئ خوړول-

خوړون:(خو-ړ-ون)حاصل مصدر- وګورئ خوړول-

خوړونکي دانه:(خو-ړون-کې-دا-نه)اسم- واحد- مؤنث- خوراکی دانه- خوږخوره-

خوړونکے:(خو-ړ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خوړونکی- مؤنث خوړونکې- وګورئ خوړول-

خوړونګ:(خو-ړ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خوړول-

خوړونه:(خو-ړ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ خوړول-

خوړووبے:(خو-ړ-وو-بے)اسم- دَ خوراک څیز-

خوړوهٔ:(خو-ړ-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ خوړول-

خوړوهل:(خوړ-وهل)مصدر- الټی کول- قے کول- چالونه کول-

خوړه:(خو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- لګلی- ناؤ- شېله- (۲)نرمه زمکه-

خوړه:(خو-ړه)اسم- دَ وادهٔ پوړی- دَ وړا پوړی- (۲)دَ وادهٔ نـه دوه ورځې مخکښې هغه خوراک یا جنس چې د زوم لهٔ کوره دَ ناوې کور تـه وروړلے شی او بیا دَ رابللو شویو خلقو د پاره پخیږی- (۳)دَ کوژدې یا کوژدې مراسم- د کوېدنې مراسم-

خوړه مار:(خو-ړه-مار)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)خوړونکے- (۲)رشوت خور- بډی خور- (۳)وظیفه خور-

خوړه مارتوب:(خو-ړه-مار-توب)اسم- خوړه ماری- (۱)بسیار خوری- (۲)رشوت خوړنه-

خوړه ماری:(خو-ړه-ما-ری)اسم- مؤنث- خوړه مارتوب-

خوړه مشر:(خو-ړه-مشر)اسم- سرخان- د خوړې مشر- دَ خوړې منظمونکے- (افغانستان)-

خوړه وال:(خو-ړه-وال)اسم صفت- واحد- مذکر- د خوړې وړونکے- دَ خوړې نمرے- پهٔ خوړه کښې برخه اخستونکے- چا چې پهٔ خوړه کښې برخه اخستې وی- (افغانستان)-

خوړهار:(خو-ړ-هار)اسم صوت- خوړکے- دَ خر پرله پسې اواز- دَ لوښی نه دَ اُبو دَ توښدو اواز-

خوړی:(خو-ړی)اسم- واحد- مؤنث- خوړه- دَ تعویذ شکرانه- نذیر- نذرانه- منبته- خورده- دَ تعویذ قیمت- هغه شکرانه یا نذرانه چې مُلا یا استاذ صېب له د تعویذ، دَم چف یا بندونو ځاښتونو لیکلو بدل کښې ورکولے شی-

خوړی بوړی:(خو-ړی-بو-ړی)اسم صفت- لالچی- حرص کونکے-

خوړی بوړی توب:(خو-ړی-بو-ړی-توب)اسم- حرص- لالچ-

خوړین:(خو-ړین)اسم صفت- واحد/جمع- مذکر- ډېر پوخ- بنهٔ پشېدلے- (۲)ډېر تنګ- تر پوزې راغلے- چاته ډېر سوختېدل- چاسره ډېره کینه ساتل- مؤنث خوړینه-

خوړین پړین:(خو-ړین-پړین)اسم صفت- مذکر- ډېر زیات خوړین-

خوړین توب:(خو-ړین-توب)اسم- پوختوب- خوړین تیا- خوړین والے- (۲)وروستوالے-

خوړین تیا:(خو-ړین-تیا)اسم- وګورئ خوړین توب-

خوړین والے:(خو-ړین-وا-لے)اسم- وګورئ خوړین توب-

خوړینول:(خو-ړی-ن-ول)مصدر متعدی- پخول- خول پول کول- د انداری نه زیات پخول- (۲)وروستول- پوره کول- (۳)ځپه کول-

www.pukhto.net

خوړینون:(خو-ړی-ن-ون)حاصل مصدر- وګوری: خوړینول-

خوړینونکے:(خو-ړی-نه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خوړینونکی- مؤنث خوړینونکې- وګوری: خوړینول-

خوړینونګ:(خو-ړی-ن-ونګ)حاصل مصدر- وګوری: خوړینول-

خوړینونه:(خو-ړی-ن-وۀ-نه)حاصل مصدر- وګوری: خوړینول-

خوړینوۀ:(خو-ړی-ن-وۀ)حاصل مصدر- وګوری: خوړینول-

خوړینه:(خو-ړی-نه)صفت- دَ خوړین مؤنث- وګوری: خوړین-

خوړینېدل:(خو-ړی-نې-دل)مصدر لازم- زیات پخېدل- (۲)ورستېدل- پوده کېدل- امباری کېدل- (۳)خپه کېدل- جګر خونېدل- ځګرخونېدل-

خوړینېدن:(خو-ړی-نې-دن)حاصل مصدر- وګوری: خوړینېدل-

خوړینېدنګ:(خو-ړی-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګوری: خوړینېدل-

خوړینېدنه:(خو-ړی-نې-دۀ-نه)حاصل مصدر- وګوری: خوړینېدل-

خوړینېدونکے:(خو-ړی-نې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خوړینېدونکی- مؤنث خوړینېدونکې- وګوری: خوړینېدل-

خوړینېدۀ:(خو-ړی-نې-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګوری: خوړینېدل-

خوړې:(خو-ړې)اسم- مؤنث- یو قسم بوټے چې خلق یې دَ جلاب دَ پاره پکاروی-

خوړېدل:(خو-ړې-دل)مصدر لازم- تلل- پورې وتل- (۲)پۀ اُبو پورې وتل-

خوړېدل:(خو-ړې-دل)مصدر لازم- قے کېدل- خواګرځېدل- بېرته کرځول- (۲)مړېدل- (۳)پۀ تویولو سره دَ اُبو اواز وېستل-

خوړېدلے:(خو-ړې-دۀ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خوړېدلی- مؤنث خوړېدلې- وګوری: خوړېدل-

خوړېدلے:(خو-ړې-دۀ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خوړېدلی- مؤنث خوړېدلې- وګوری: خوړېدل-

خوړېدن:(خو-ړې-دن)حاصل مصدر- وګوری: خوړېدل-

خوړېدن:(خو-ړې-دن)حاصل مصدر- وګوری: خوړېدل-

خوړېدنګ:(خو-ړې-دنګ)حاصل مصدر- وګوری: خوړېدل-

خوړېدنګ:(خو-ړې-دنګ)حاصل مصدر- وګوری: خوړېدل-

خوړېدنه:(خو-ړې-دۀ-نه)حاصل مصدر- وګوری: خوړېدل-

خوړېدنه:(خو-ړې-دۀ-نه)حاصل مصدر- وګوری: خوړېدل-

خوړېدونکے:(خو-ړې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خوړېدونکی- مؤنث خوړېدونکې- وګوری: خوړېدل-

خوړېدونکے:(خو-ړې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خوړېدونکی- مؤنث خوړېدونکې- وګوری: خوړېدل-

خوړېدۀ:(خو-ړې-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګوری: خوړېدل-

خوړېدۀ:(خو-ړې-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګوری: خوړېدل-

خوږې وږې:(خو-ږې-و-ږې)اسم صفت- خوږې تنې- ځلور ځانګې- ځلور اړخه- ارام- بې غمه- بې اندېښنې- (افغانستان)-

خوزکه:(خو-زۀ-که)اسم- واحد- مؤنث- توتکرکے- جمع خوزکې-

خوزن:(خو-زن)اسم صفت/فاعل- خوزېدونکے-

خوزول:(خو-زول)مصدر متعدی- ړتول- شوروِل- خوځول- ښورول- حرکت ورکول- سدارول- راوړخارل- خوځول-

خوزېدل:(خو-زې-دل)مصدر لازم- رږېدل- خوځېدل- ښوربېدل- شورېدل- لۀ یوۀ ځایه بل ته کېدۀ- زنګېدۀ-

خوزېنه:(خو-زې-نه)اسم- مؤنث- وګوری: خوړینه-

خوږ:(خوږ)اسم- (۱)درد- ناروغی- مرض- هغه درد چې دَ ناروغی لۀ عمله وی- (۲- صفت)ژوبل- (۲)زخمی-

خوږ:(خوږ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)دَ تریخ ضد- شیرین- خوندور- لذیذ- مزېدار- (۲)پۀ زړۀ پورې- ګران-

خوږ ځکان:(خوږ-ځه-کان)اسم مرکب- دَ دوؤ یارانو یا دوستانو تر مېنځه معمولی زړۀ بدوالے-

خوږ ځلے:(خوږ-ځ-لے)اسم صفت- واحد- مذکر- خوږ ژبے- دَ خوږې ځلې څښتن- چې خوږې خوږې خبری کوی- مؤنث خوږه ځلې-

خوږ ژبے:(خوږ-ژ-بے)اسم صفت- واحد- مذکر- شیرین زبانه- دَ خوږې ژبې خاوند- هغه څوک چې ښېرې نۀ کوی او خوږې خبرې کوی یا یې خبرو کښې ډېر اثر وی-

خوږ لا:(خو-ږ-لا)اسم- واحد- مذکر- یو قسم اسمانی رنګے چینجے چې چیچل هم کوی- (افغانستان)-

خوږ کمرے:(خوږ-کم-مرے)اسم صفت- مذکر- سمره- (افغانستان)-

خوږکے:(خو-ږ-کے)اسم- واحد- مذکر- شاتیکه-

خوږلارے:(خوږ-لا-رے)اسم- واحد- مذکر- سوربارنجی- زیږبخن- ارغوانی- داسې رنګ چې نۀ ډېر زیړ وی او نۀ سور-

خوږلت:(خوږ-لت)اسم صفت- خوږوالے- خوندوروالے- شیرینی- خوندورتوب- (۲)شیرین زبانی- خوږې خبرې کونه- خوږه او پسته ژبه لرنه- (افغانستان)-

خوږلرکے:(خوږ-لر-کے)اسم- واحد- مذکر- ملت- خوږولې- خوږه وله- خوږلرکے-

خوږلمارے:(خوږ-لما-رے)اسم- ازارخانی- خوږه مرې- اونت- پرک پرک- کونکوتے- (افغانستان)-

خوږلن:(خوږ-لن)اسم صفت- واحد- مذکر- وګوری: خوږه لورے-

خوږلن:(خوږ-لن)اسم- واحد- مذکر- ایره خول- تودی ایرې- پورندے- دَ سرې ازو-

خوږلنی:(خوږ-لۀ-نی)اسم- مؤنث- شیرینی-

ئ (ئي-ږل)- ی (اې-رهول)، ی (پيا-لی)، ي (تن-ديي) تفصیل دَ پاره وګوری: تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

خوږلنے:(خوږ-لهٔ-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- خوږه لوږے- شیرین وزمه- خوږلوږے- شیرین چک- خوږږمه- خوږ غندي- (افغانستان)-

خوږلوږے:(خوږ-لو-ږے)اسم صفت- واحد- مذکر- خوږه لوږے- لږ شان خوږ- جمع خوږلوږي-

خوږم:(خو-ږم)اسم- واحد- مذکر- سوني- یاسمین- سامن- دٔ چامبېل ګل- نباتاتي نوم دٔ پاره وګورئ: چامبېل-

خوږمن:(خوږ-من)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)دردمند- دږمن- دردمن- دردېدلے- خوږ شوے- (۲)همدرد- خواخوږے-

خوږمنتیا:(خوږ-من-تیا)اسم- مؤنث- دردمندي- ناروغي- ناروغتیا-

خوږمنول:(خوږ-مهٔ-ن-ول)مصدر متعدي- دردول- خوږول- خوږ رسول- (۲)خواخوږے کول- همدردول- همدرد جوړول-

خوږمنون:(خوږ-مهٔ-نه-ون)حاصل مصدر- وګورئ: خوږمنول-

خوږمنوکے:(خوږ-مهٔ-نه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ: خوږمنول-

خوږمنونګ:(خوږ-مهٔ-نه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ: خوږمنول-

خوږمنونه:(خوږ-مهٔ-نه-وهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ: خوږمنول-

خوږمنېدل:(خوږ-مهٔ-نې-دل)مصدر لازم- دردېدل- خوږېدل- همدرد جوړېدل-

خوږمنېدن:(خوږ-مهٔ-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ: خوږمنېدل-

خوږمنېدنګ:(خوږ-مهٔ-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ: خوږمنېدل-

خوږمنېدنه:(خوږ-مهٔ-نې-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ: خوږمنېدل-

خوږمنېدونکے:(خوږ-مهٔ-نې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ: خوږمنېدل-

خوږمنېدهٔ:(خوږ-مهٔ-نې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ: خوږمنېدل-

خوږمي:(خوږ-مي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دٔ پسرلي پهٔ سر کښې را شین کېدونکے یو قسم خوږ لوږے بوټے- (افغانستان)-

خوږوالے:(خوږ-والے)اسم- شیریني- دٔ ترېخوالي ضد-

خوږوبے:(خو-ږو-بے)اسم- واحد- مذکر- شربت- خوږخوندے-

خوږوکه:(خو-ږو-که)اسم- واحد- مؤنث- ګکه- خوند کتنه- نوا- (۲)مساله- دٔ نکولي مساله- دٔ کتغ مساله- هغه تراوهٔ او تراخهٔ مواد چې دٔ پخکړې دٔ خوند ښهٔ کولو پهٔ غرض دٔ پخلي پهٔ وخت کتښې ته وراچولے شي- (افغانستان)-

خوږول:(خو-ږ-ول)مصدر متعدي- شیرینول- خواږهٔ وراچول- (۲)پهٔ زړهٔ پورې کول- خوندور کول- مزه ناک کول- (۳)پهٔ سودا کښې لږ شان زیات څیز ورکول- (۴)پهٔ جواري کښې داؤ غټول- (۵)نرخ لږ شان وچتول-

خوږول:(خو-ږ-ول)مصدر متعدي- (۱)زخمي کول- (۲)دردول- ژوبلول- زوبلول-

خوږولي:(خو-ږ-و-لي)اسم- واحد- مؤنث- دٔ یو بوټي نامه- خوږوله-

خوږولے:(خو-ږ-و-لے)اسم صفت- واحد- مذکر- خوږ- پړاړے- زخمي- پرهرے- ټپي-

خوږون:(خو-ږ-ون)حاصل مصدر- وګورئ: خوږول ۱-

خوږون:(خو-ږ-ون)حاصل مصدر- وګورئ: خوږول ۲-

خوږونکے:(خو-ږ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خوږونکي- مؤنث خوږونکې- وګورئ: خوږول-

خوږونکے:(خو-ږ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خوږونکي- مؤنث خوږونکې- وګورئ: خوږول-

خوږونګ:(خو-ږ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ: خوږول-

خوږونګ:(خو-ږ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ: خوږول-

خوږونه:(خو-ږ-وهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ: خوږول-

خوږونه:(خو-ږ-وهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ: خوږول-

خوږوهٔ:(خو-ږ-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ: خوږول-

خوږوهٔ:(خو-ږ-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ: خوږول-

خوږه:(خو-ږه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)شیریني- بوره- بړه- پلمېټ- (۲)مچو- کوکي- مچکه- مچه- بنګل- (۳)دٔ خوږ مؤنث- جمع خوږې-

خوږه بېله:(خو-ږه-بې-له)اسم- واحد- مؤنث- خوږه لبې- یو قسم ونه چې دٔ ګل وبخ ي ېېر خوږ وي-

خوږه خلے:(خو-ږه-خ-لے)اسم صفت- وګورئ: خوږه لوږے ۲-

خوږه خوره:(خو-ږه-خو-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: خوږونکې دانه-

خوږه کاسه:(خو-ږه-کا-سه)اسم- واحد- مؤنث- بوله- شکربته- پخې ارته- پایواڅې- شیرین کاسه- دٔ سحر کره دٔ زوم وږومبي ورتلنه- (افغانستان)-

خوږه کې خرنې:(خو-ږه-کې-خر-نې)اسم- مؤنث- یو قسم ازغي لرونکے بوټے چې ګل ي سپین وي او بېخ ي سور وي-

خوږه کے:(خو-ږه-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)خوږلن- خوږه لوږے- لږ خوږ- کم شیرین- (۲)ووره کے- یو قسم بوټے چې پهٔ سپرلي کښې شین کیږي، دا بوټے ترخې او وږدې داني لري چې وروستو ترې بیا تېرهٔ تېرهٔ ازغي پېدا کیږي- جمع خوږه کي- (افغانستان)-

خوږه لماړي:(خو-ږه-لما-ړي)اسم- مؤنث- دٔ کږې تي چې معدې سره وي-

خوږه لوږے:(خو-ږه-لو-ږے)اسم صفت- واحد- مذکر- خوږلن- خوږ وزمه- خوږ شان- خوږ غندي- شیرین مزه- شیرین چوک- شیرین چک- (افغانستان)-

خوږه لوږے ۲:(خو-ږه-لو-ږے)اسم صفت- دٔ مټایي شوقین- خوږه خلے-

خوږه وله:(خو-ږه-و-له)اسم- واحد- مؤنث- ملته- خوږه ولې- خوږ لرګے- دٔ یو بوټي خېلي چې پهٔ دارو کښې پکاریږي- نباتاتي نوم ګلېسرهیزا ګلبیرا (GLYCYRRHIZA GLABRA)-

خوږه ولې:(خو-ږه-و-لې)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: خوږه وله-

خوږینه:(خو-ږي-نه)اسم- مؤنث- شیریني- خوږینه- خوږلني-

خوږي أبهٔ:(خو-ږي-أ-بهٔ)اسم مرکب- مؤنث- آب شیرین- شربت-

خوږېدل:(خو-ږې-دل)مصدر لازم- شیرینېدل- خوږ کېدل- خوند ښهٔ کېدل-

زبر (ج-مهٔ-ره)، زورکے(شل)، پېښ (مو-کا-ره)، زمر (ک-ساب)، جزم (شکوب)، تهٔ (و-ږه)، ۀ (پړو-بېي-دهٔ)

(۲)دَ نرخ وُچتېدل- (۳)پهٔ جوارۍ کښې داؤ زیاتېدل-

خوږېدل:(خُو-ږي-دَل)مصدرِ لازم- زخمي کېدل- ژوبلېدل- دردېدل- زوبلېدل-

خوږېدن:(خَو-ږي-دَن)حاصلِ مصدر- وکورئ خوږېدل-

خوږېدن:(خُو-ږي-دَن)حاصلِ مصدر- وکورئ خوږېدل-

خوږېدنګ:(خَو-ږي-دَنګ)حاصلِ مصدر- وکورئ خوږېدل-

خوږېدنګ:(خُو-ږي-دَنګ)حاصلِ مصدر- وکورئ خوږېدل-

خوږېدنه:(خَو-ږي-دَنَه)حاصلِ مصدر- وکورئ خوږېدل-

خوږېدنه:(خُو-ږي-دَنَه)حاصلِ مصدر- وکورئ خوږېدل-

خوږېدونکے:(خَو-ږي-دُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع خوږېدونکي- مؤنث خوږېدونکې- وکورئ خوږېدل-

خوږېدونکے:(خُو-ږي-دُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع خوږېدونکي- مؤنث خوږېدونکې- وکورئ خوږېدل-

خوږېدهٔ:(خَو-ږي-دَهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وکورئ خوږېدل-

خوږېدهٔ:(خُو-ږي-دَهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وکورئ خوږېدل-

خوسا:(خُو-سا)صفت- واحد/جمع- مذکر مؤنث- سخا- خوسو- خَسا- ګنده- بدبويه- وروست- بوئين-

خوساتوب:(خُو-سا-توب)اسم- مذکر- سخاتوب- ګنده توب- خوساوالے-

خوساخلے:(خُو-سا-خَلے)اسمِ صفت- واحد- مذکر- هغه غوک چې دَ خَلې نه ئې بد بوئ څي- سخا خلے-

خوسا پنو:(خوسا-پنو)اسم- واحد- مذکر- دَ سخا أبو پنو- دَ بدبويه أبو پنو- هغه پنو چې أبهٔ ئې سخا شوې وي-

خوساسارمه:(خُو-سا-سار-مه)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم خوړلن بوټے- يو قسم بوټے چې خوږ لوړے خوند لري- (افغانستان)-

خوساښې:(خُو-سا-ښې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- خساښې- شين ټغ- شيټنغ- دَ طوطي پهٔ شان يو قسم مارغهٔ- (افغانستان)-

خوساکانړے:(خُو-سا-کا-نړے)اسم- مذکر- يو قسم کاڼے چې لوښي تري جوړولے شي- (افغانستان)-

خوساوالے:(خُو-سا-وا-لے)اسم- مذکر- وکورئ خوساتوب-

خوساوزه:(خُو-سا-وَ-زه)اسم- مؤنث- خوشاوزه- سخاوژه-

خوستوال:(خُوست-وال)اسم صفت- واحد- مذکر- خواستګار- خواستوال-

خوس خوس:(خُوس-خُوس)اسم- مذکر- ورے ورے- دَ جوارۍ يو قسم لوبه-

خوسکول:(خُوس-کَ-وَل)مصدرِ متعدي- بوږنول- رېږدول- رپول- خَسکول-

خوسکېدل:(خُوس-کې-دَل)مصدرِ لازم- خَسکېدل- بوږنېدل- رېږدېدل- رپېدل-

خوسکے:(خُوس-کے)اسم- واحد- مذکر- خوسے- سخوندر- ګوړکے- سَخے- خَسے- جمع خوسکي-

خوسندر:(خُو-سَن-دَر)اسم- واحد- مذکر- وکورئ سخوندر/خوسکے-

خوسوے:(خو-سَ-وے)اسم- واحد- مذکر- وکورئ خوشای-

خوسېدل:(خو-سې-دَل)مصدرِ لازم- يشېدل- څټکېدل- اېشېدل-

خوسېدلے:(خُو-سې-دَ-لے)اسمِ مفعول- جمع خوسېدلي- مؤنث خوسېدلې- وکورئ خوسېدل-

خوسېدن:(خو-سې-دَن)حاصلِ مصدر- وکورئ خوسېدل-

خوسېدنګ:(خو-سې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وکورئ خوسېدل-

خوسېدنه:(خُو-سې-دَنَه)حاصلِ مصدر- وکورئ خوسېدل-

خوسېدونکے:(خُو-سې-دُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع خوسېدونکي- مؤنث خوسېدونکې- وکورئ خوسېدل-

خوسي:(خو-سي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- ښاپېرک- اسمان چکالے- نماښام چکالے- شوپرک-

خوسے:(خُو-سے)اسم- واحد- مذکر- (۱)خوسکے- سخے- (۲)يو قسم لوبه چې يوه پښه پهٔ لاس نيولے کيږي او دَ دوؤ پلو تر منځه کولے شي- ارګوړے-

خوش:(خوش)صفت- ښهٔ پهٔ زړهٔ پورې- خوشحاله- (۲- لاحقه)هغه لاحقه چې دَ څنو اسمونو سره ولګولے شي نو صفت ترې جوړ شي لکه خوش طبع- خوش اخلاقه وغيره-

خوشاتاړے:(خُو-شا-تا-ړے)اسم صفت- واحد- مذکر- خوشکے- لوړ- خُشے- خُشتاړے- خوشاټاړے- خوشاتړ- خوشاټنګ- خوشاتے-

خوشاټاړے:(خُو-شا-ټا-ړے)اسم صفت- واحد- مذکر- وکورئ خوشاتاړے- جمع خوشاټاړي-

خوشاتړ:(خو-شا-تړ)اسم صفت- واحد- مذکر- وکورئ خوشاتاړے-

خوشاټنګ:(خو-شا-ټَنګ)اسم صفت- واحد- مذکر- وکورئ خوشاتاړے-

خوشاتے:(خو-شا-تے)اسم صفت- واحد- مذکر- وکورئ خوشاتاړے- جمع خوشاتي-

خوش اروا:(خوش-اَر-وا)اسم صفت- واحد- مذکر- ازاد- خوش طبع-

خوشال:(خو-شال)اسم صفت- واحد- مذکر- خوشحال- خوښ- خوشاله- خوشحاله-

خوشالتوب:(خو-شال-توب)اسم- مذکر- خوشحال توب- خوشالتيا- خوشالي- انند-

خوشالتيا:(خو-شال-تيا)اسم- وکورئ خوشالتوب-

خوشالول:(خو-شا-لَ-وَل)مصدر متعدي- خوشحالول- خوښول- خوشاله کول- خوشحاله کول- دَ چا زړهٔ ښهٔ کول-

خوشالون:(خو-شا-لَ-وَن)حاصلِ مصدر- وکورئ خوشالول-

خوشالونکے:(خو-شا-لَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خوشالونکي- مؤنث خوشالونکې- وکورئ خوشالول-

خوشالونګ:(خو-شا-لَ-وَنګ)حاصلِ مصدر- وکورئ خوشالول-

خوشالونه:(خو-شا-لَ-وَنَه)حاصلِ مصدر- وکورئ خوشالول-

ک˝ (ښي-ول)، ګ˝(هې-وه-ول)، ګ˝(ږيا-لي)، ˝ے˝(تن-دے) تفصيل دَ پاره وکورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

خوشالوهٔ:(خو-شا-ل-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ خوشالول-

خوشاله خوشالي:(خو-شا-له-خو-شا-لي)اسم مرکب- ډېره خوشالي- خوشحالي- خوښي- خوشالتيا-

خوشالي:(خو-شا-لي)اسم- مؤنث- خوښي- خوشحالي- خوشالتيا- انند- خوشالتوب-

خوشالېدل:(خو-شا-لې-دل)مصدر لازم- خوشحالېدل- خوښېدل- خوشاله کېدل- خوشحاله کېدل-

خوشالېدن:(خو-شا-لې-دن)حاصل مصدر- وګورئ خوشالېدل-

خوشالېدنګ:(خو-شا-لې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ خوشالېدل-

خوشالېدنه:(خو-شا-لې-ده-نه)حاصل مصدر- وګورئ خوشالېدل-

خوشالېدونکے:(خو-شا-لې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خوشالېدونکي- مؤنث خوشالېدونکې- وګورئ خوشالېدل-

خوشالېدهٔ:(خو-شا-لې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ خوشالېدل-

خوشامدګر:(خو-شا-مد-ګر)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ خوشامدګرے-

خوشامدګرے:(خو-شا-مد-ګ-رے)اسم صفت- واحد- مذکر- خوشامدګر- چاپلوس- چاپلوس- خوشامدي کونکے- د بل صفتونه کونکے- په ژبه ښتونکے- چمچه- چمچه ګيري کونکے- مدح خوان- خوشامدے-

خوشامدے:(خو-شا-م-دے)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ خوشامدګرے-

خوشامندګر:(خو-شا-مند-ګر)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ خوشامدګرے- مؤنث خوشامندګره-

خوشامنده:(خو-شا-من-ده)اسم- واحد- مؤنث- چاپلوسي- چاپلوسي- خوشامده-

خوشامندي:(خو-شا-من-دي)اسم- مؤنث- خوشامنده- چاپلوسي- چاپلوسي-

خوشاوزه:(خو-شا-و-زه)اسم- واحد- مؤنث- خوساوزه- د لوښي په شان يو بوټے چې په رودونو او لويو ولو کښې زرغنيږي، بدوږمه بيخ لري چې په دوايانو کښې پکاريږي- (افغانستان)-

خوشاونده:(خو-شا-ون-ده)اسم- واحد- مؤنث- خوشامنده- چاپلوسي- چاپلوسي- تيټه پيټه-

خوشاني:(خو-شا-ني)اسم- غوشايه- غوشوے- خوشوے-

خوشايهٔ:(خو-شا-يهٔ)اسم- جمع- مذکر- غوشايه- خشان- خرشاني-

خوشبو:(خوش-بو)اسم- ښه بوئ- ښه ورمه-

خوشبودار:(خوش-بو-دار)صفت- ښه بوئ لرونکے- خوشبويه-

خوشبوست:(خوش-بوست)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه څوک چې خوشبوئي تري نه خيژي- ښه لباس اغستونکے-

خوشبوئي:(خوش-بو-ئي)اسم- مؤنث- (۱)ښه بوئ کونه- (۲- صفت)ښه بوئ-

خوشبويه:(خوش-بو-يه)اسم صفت- مذکر/مؤنث- خوشبوئي لرونکے څيز- چې ښه بوئ تري خيژي- بوئ ناک- خوش بويه څيز-

خوشمونے:(خوش-بو-نے)اسم- واحد- مذکر- (۱)خوشبوئ- خوشبو- ښه او خوندور بوئ- (۲- صفت)بوئ ناک- ميناک-

خوشت:(خوشت)اسم صفت- واحد- مذکر- جب جوب- لوند- لوند خوشت-

خوش تبه:(خوش-تبه)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- (۱)خوش طبع- خوش طبيعته- خنده روئے- (۲)ښاد-

خوشتول:(خوش-ت-ول)مصدر متعدي- جب جوبول- لوندول- ښه لوندول-

خوشتون:(خوش-ت-ون)حاصل مصدر- وګورئ خوشتول-

خوشتونکے:(خوش-ت-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خوشتونکي- مؤنث خوشتونکې- وګورئ خوشتول-

خوشتونګ:(خوش-ت-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خوشتول-

خوشتونه:(خوش-ت-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ خوشتول-

خوشتوهٔ:(خوش-ت-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ خوشتول-

خوشتېدل:(خوش-تې-دل)مصدر لازم- جب جوب کېدل- لوندېدل- ښه لوندېدل-

خوشتېدن:(خوش-تې-دن)حاصل مصدر- وګورئ خوشتېدل-

خوشتېدنګ:(خوش-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ خوشتېدل-

خوشتېدنه:(خوش-تې-ده-نه)حاصل مصدر- وګورئ خوشتېدل-

خوشتېدونکے:(خوش-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خوشتېدونکي- مؤنث خوشتېدونکې- وګورئ خوشتېدل-

خوشتېدهٔ:(خوش-تې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ خوشتېدل-

خوشحال:(خوش-حال)اسم صفت- واحد- مذکر- خوشال- خوښ- چې طبيعت ئې ښه جوړ وي- مؤنث خوشحاله- (م- فارسي)-

خوشحاله خوشحالي:(خوش-حا-له-خوش-حا-لي)اسم مرکب- ښادي خوشحالي- مزې چړچې- ټوقې ټکالې- موج ميلې- تماشې ننداري-

خوشخبري:(خوش-خب-ري)اسم- مؤنث- ښه خبر- زيرے- (م- فارسي)-

خوشخط:(خوش-خط)اسم صفت- (۱)ډېر ښه او ښائسته خط- (۲)ښه ليکونکے-

خوشخطي:(خوش-خ-طي)اسم- مؤنث- ښائسته خط ليکنه- (م- فارسي)-

خوش خميره:(خوش-خ-مي-ره)اسم- مؤنث- د خميره شويو اوړو ټکي-

خوشدل:(خوش-دل)اسم صفت- واحد- مذکر- ښاد- خنده روئے- خوش باش- چې د خوشحال زړهٔ خښتن وي-

خوشرنګ:(خوش-رنګ)اسم صفت- واحد- مذکر- چې رنګ ئې ښه وي- ښائسته-

خوش طبع:(خوش-طبع)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)خوش طبيعته- خنده روئے- (۲)ښاد-

خوشکمار:(خوشک-مار)اسم صفت- واحد- مذکر- خوشکے- خوشے تشے- شاخے شاخے- کوکه پټ- هردرے- اواره- سرېلے- (۲)خوار بېزه ګار- بېستمن- چې د پلې او پرې جمبې ئې څوک نهٔ وي- جمع خوشکماران-

خوشکه:(خوش-که)اسم- مؤنث- (۱)ناحق- بې فائدې- چټي- خشي- عبث-

www.pukhto.net

(۲)لعظی جنګ- (۳)شکربته- هغه پخې شوې وريژې چې شکره پرې اچولے کیږی او پس د هغې نه خوړلے شي-

خوشکه:(خوش-که)اسم- واحد- مؤنث- قهر- غضب- منت- تهدید- (۲)وُچه- سوکړه- وَچ کالے- دَ باران او واورې نیشتوالے-

خوشکې:(خوش-کې)(خوش-کي)اسم- (۱)د کاغذ بله- نازک کاغذ- د باډیوې نرے کاغذ- دَ پتنګ کاغذ- دَ ګوډی کاغذ- دَ ګوډی پران کاغذ- (۲)سپوروالے- وَچ والے- سوکړه- (۳)سپین پتخی چې دَ سر وېښتو کښې پېدا کیږی او بعضې وخت په خرمن هم ظاهرېږی- (۴- صفت)غصه ناک- تریخ-

خوشکیت:(خوش-کی-یت)اسم- قهر- غُصه- غضب- غُصه توب- خوشکه-

خوشکیني:(خوش-کي-یه-تي)صفت- غضباني- خوشکي- غصه ناک- قهرژن-

خوشکے:(خو-ش-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- لېږ- سوږر- ایله ګرد- خُشے- خُشے ګرځېدونکے بې کاره سړے-

خوش ګوني:(خوش-ګو-ني)اسم- خوره او پسته ژبه استعمالول- دَ خوږې ژبې خبرې-

خوشلاړی:(خوش-لا-ړی)اسم- جمع- مذکر- هغه مرض چې څاروی پکښې ریخ بیوی-

خوشلاړے:(خوش-لا-ړے)اسم- دَ څاروی ریخ-

خوشلږ:(خوش-لږ)اسم- دَ خوشیانو سره یو ځاې شوې خته- دَ خوشیو سره ګډه شوې خاوره- (۲)جنجال- دعوی- دنګله- لانجه توقه-

خوشمړی:(خوش-م-ړی)اسم- مؤنث- نقدې پیسې- نقدی روپی-

خوشه:(خو-شه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)غُنچه- ګُچه- (۲)کاټلی- جمع خوشې-

خوشیا:(خو-شیا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خوشي خوشیا- چې هېڅوک پکښې نهٔ وی- میرا- دشته- (۲)چې هېڅوک پې نهٔ وی- خالِله- خوشے-

خوشي توب:(خو-شي-توب)اسم- مذکر- (۱) خوشي والے- بې کاری- اواره ګردي- (۲)خلاصے موندنه-

خوشي والے:(خو-شي-وا-لے)اسم- مذکر- وګورئ خوشي توب-

خوشي:(خو-شي)اسم- واحد- مؤنث- دَ ماشې پهٔ شان یوه خزنده-

خوشے:(خو-شے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)چټی- عبث- بې ځایه- بې ګټې- (۲)وړیا- مفت- مجاني- (۳)خلاص- ازاد- ایله شوے- (۴)وزګار- (۵)تش- خالی-

خوښ:(خوښ)صفت- مذکر- (۱)راضی- خوشحاله- خوشال- خوشحال- (۲)غوره- چوڼ شوے- منتخب-

خوښاړه:(خو-ښا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- دَ میوه دارې وَنې ګل- هغه ګلونه چې میوه داری وَنې ی لهٔ پاڼو کولو څخه مخکښې کوی-

خوښت:(خوښت)اسم صفت- مذکر- وګورئ خیښت-

خوښ توب:(خوښ-توب)اسم- مذکر- خوښتیا- خوښوالے- خوشېدنه-

خوښتیا:(خوښ-تیا)اسم- مؤنث- وګورئ خوښتوب-

خوښکورے:(خوښ-کو-رے)اسم- چینکه- ګوښکے- (افغانستان)-

خوښمن:(خوښ-من)اسم صفت- واحد- مذکر- خوښونکے- غوره کونکے- انتخابونکے- (۲)خوښ- خوشحال- خوشال- خوشحاله- خوشاله- مؤنث خوښمنه- جمع خوښمنې- (افغانستان)-

خوښن:(خو-ښن)اسم صفت- مذکر- وګورئ خوښ-

خوښوالے:(خوښ-وا-لے)اسم- مذکر- وګورئ خوښتوب-

خوښول:(خو-ښ-ول)مصدرِ متعدی- خوشالول- خوشحاله کول- راضی کول- (۲)انتخابول- غوره کول- چاڼول-

خوښون:(خو-ښ-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ خوښول-

خوښونکے:(خو-ښ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خوښونکي- مؤنث خوښونکې- وګورئ خوښول-

خوښونګ:(خو-ښ-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ خوښول-

خوښونه:(خو-ښ-ونه)حاصلِ مصدر- وګورئ خوښول-

خوښوهٔ:(خو-ښ-وهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ خوښول-

خوښه:(خو-ښه)اسم- واحد- مؤنث- رضا- میل- رغبت- (۲)انتخاب- غوره کونه- چاڼ- چوڼ- جمع خوښې-

خوښي:(خو-ښي)اسم- مؤنث- (۱)خوښتیا- خوښوالے- خوشحالي- اَنند- (۲)انتخاب- رضا- خوښه-

خوښینه:(خو-ښي-نه)اسم- واحد- مؤنث- خښینې- خښینه- دَ مانديني خور- دَ ښځې خور-

خوښېدل:(خو-ښې-دل)مصدرِ لازم- خوشاله کېدل- رضا کېدل- (۲)انتخابېدل- غوره کېدل-

خوښېدن:(خو-ښې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ خوښېدل-

خوښېدنګ:(خو-ښې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ خوښېدل-

خوښېدنه:(خو-ښې-دنه)حاصلِ مصدر- وګورئ خوښېدل-

خوښېدونکے:(خو-ښې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خوښېدونکي- مؤنث خوښېدونکې- وګورئ خوښېدل-

خوښېدهٔ:(خو-ښې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ خوښېدل-

خوښے:(خو-ښے)اسم- دَ وادهٔ لګښت- دَ وادهٔ مصرف- دَ وادهٔ خرچ-

خوغاړه:(خو-غا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- کلی-

خوف:(خوف)اسم- ویره- ډار- بېره- بیم- ډور-

خوفناک:(خوف-ناک)اسم صفت- واحد- مذکر- ویرونکے- یرونکے- بېرونکے- ډارونکے- ډورونکے-

خوګ:(خوګ)اسم- واحد- مذکر- خنځیر- بدځناور- سرکوزے- مته- خوګ-

خوګه:(خو-ګه)اسم- واحد- مؤنث- مښوکه- جمع خوګې-

خوګ:(خوګ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ خوګ-

خوګرې:(خو-ګرې)اسم- خرپوسې- خرپوګې- خاړپوګې-

ی (ئی-رل)   ي (مي-ره-ول)، ی (پیا-لي)، ے (تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

خوګلن:(خوګ-لن)اسم- مذکر- خوږلن- هغه اور چي په ايرو کښي پټ وي- دَ ايرو لاندې اور-

خول:(خول)اسم- واحد- مذکر- تاج- دَ اُسپني توپي چي دَ جنګ په وخت کښي پکاريږي- (۲)د کالتوس پټاخه- استر- پوږ- تېکے- غلاف- پوښ- پوش-

خول:(خُول)اسم- مذکر- يو قسم پنهور لرونکے بوټے چي کنوي په زخم اېښولے کيږي- (افغانستان)-

خولبر:(خول-بَر)اسم- دليل- برهان-

خولبل:(خول-بَل)صفت- خوت پت- خول بول-

خول بور:(خُول-بُور)اسم- واحد- مذکر- سرپوښ- خول پټے- خولبورے- خول پوټے- دَ شيشي يا صراحي دَ خُلې بوږے- پوَجه- پيپه- تيرک- سلائي- (افغانستان)-

خولبورے:(خُول-بُو-رے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ خول بور-

خول بول:(خُول-بُول)صفت- خوت پت- خولبل- (۲)مېده مېده- خول مل- (۲)سترے ستوماه-

خول پټے:(خُول-پټے)اسم- واحد- مذکر - (۱)خاموش- غلے- چُپ- ساکت- خولپوټے- (۲)خول بور-

خولپکي:(خول-پ-کي)اسم صفت- خوک په خُلهٔ وهنه-

خولپوټے:(خولَ-پو-ټے)اسم- واحد- مذکر- غلے- خاموش- چپ- (۲)پوَجه- کاک- سرپوښ-

خولپورے:(خولَ-پو-رے)اسم- واحد- مذکر- غلے- چپ- خاموش- جمع خولپوري- (افغانستان)-

خول پول:(خُولَ-پول)صفت- پير غُصه-

خولپېتي:(خولَ-پې-تي)اسم- واحد جمع- مؤنث- خُلهٔ پټے- کاک- پوَجه- شوره-

خولړن:(خول-ړَن)اسم صفت- واحد- مذکر- خولي خولي- په خولو کښي پوب- خولن- خولناک-

خولخوټکه:(خول-خو-ټ-که)اسم- واحد- مؤنث- بربوړکي- بوربوړکي- خوږني- کوږنۍ- جمع خولخوټکي-

خولخوږي:(خول-خو-ږي)اسم- يو قسم بيماري چي پکښي دَ ناروغه بنده ټولي اوري خوږيږي او بدبوئ تري خيژي-

خولخوږے:(خول-خو-ږے)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه څوک چي د خولخوږي په مرض اخته وي- (افغانستان)-

خول خول:(خول-خول)اسم- واحد- مذکر- يوه لويه بياتي چي د ګډ وړي پري کټيلے شي- (افغانستان)-

خولخونده:(خولَ-خَون-ده)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم ميوه- جمع خولخوندي- (افغانستان)-

خولکي:(خُول-کي)اسم- مؤنث- يو قسم واښهٔ چي دُ ولو په غاړه راشنهٔ کېږي- (افغانستان)-

خولکے:(خول-کے)اسم- واحد- مذکر- خلکے- تيله- خاشه- خلے- خل پل-

خولکۍ:(خول-کۍ)اسم تصغير- مؤنث- وړه خُله- کوچني خُله- خولګوټې- (۲)مچو- مچکه- مچه- چپي- کوکي-

خولم:(خو-لم)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)لوړلے- تهلے- ککړ- لژند- لپت پپت- لت پت- (۲)اولر- هوار- (۲)منطبق- نښتے-

خولم پلم:(خَو-لَم-پ-لم)اسم صفت- واحد- مذکر- په وينو ککړ- په وينو لړلے- مؤنث خولمه پلمه- جمع خولمي پلمي- (افغانستان)-

خولمتوب:(خَو-لَم-توب)اسم- خولمتيا- خولموالے- په وينو کښي لړلے کېدنه- (۲)اولروالے- اولرتيا-

خولمتيا:(خَو-لَم-تيا)اسم- وګورئ خولمتوب- (افغانستان)-

خول مل:(خول-مَل)صفت- مېده مېده- خول مول-

خولموالے:(خَو-لَم-وا-لے)اسم- وګورئ خولمتوب-

خول مول:(خولَ-مول)صفت- مېده مېده- خل مل-

خولمول:(خَو-ل-م-ول)مصدر متعدي- لړل- لژندول- ککړول- لت پتول- لپت پپتول- (۲)اولرول- هوارول- پلنول- ورپوري ښلي کول- (افغانستان)-

خولمون:(خَو-ل-م-ون)حاصل مصدر- وګورئ خولمول-

خولمونکے:(خَو-ل-م-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خولمونکي- مؤنث خولمونکې- وګورئ خولمول-

خولمونګ:(خَو-ل-م-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خولمول-

خولمونه:(خَو-ل-م-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ خولمول-

خولموهٔ:(خَو-ل-م-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ خولمول-

خولمېدل:(خَو-ل-مې-دَل)مصدر لازم- لژندېدل- ککړېدل- لپت پپتېدل- لت پتېدل- (۲)اولرېدل- هوارېدل- پلنېدل- ښلي کېدل-

خولمېدن:(خو-ل-مې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ خولمېدل-

خولمېدنګ:(خَو-ل-مې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ خولمېدل-

خولمېدنه:(خو-ل-مې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ خولمېدل-

خولمېدونکے:(خَو-ل-مې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خولمېدونکي- مؤنث خولمېدونکې- وګورئ خولمېدل-

خولمېدهٔ:(خو-ل-مې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ خولمېدل-

خولن:(خَو-لَن)اسم صفت- واحد- مذکر- خَولي خَولي شوے- (۲)خَولي کونکے- خولي کېدونکے-

خولناک:(خَول-ناک)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ خولړن-

خولنګ:(خو-لنګ)اسم- فرياد- ژړا انګولا- وير- ماتم-

خولنګول:(خَو-لنګ-ګ-ول)مصدر متعدي- په ژړا کول- په فرياد کول- په انګولا کول- په ماتم کښېنول-

خولنګون:(خَو-لنګ-ګ-ون)حاصل مصدر- وګورئ خولنګول-

www.pukhto.net

خولنګونکے:(خو-لنګ-ګ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خولنګونکی- مؤنث خولنګونکې- وګورئ خولنګول-
خولنګونګ:(خو-لنګ-ګ-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ خولنګول-
خولنګونه:(خو-لنګ-ګ-ونه)حاصلِ مصدر- وګورئ خولنګول-
خولنګوهٔ:(خو-لنګ-ګ-وهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ خولنګول-
خولنګېدل:(خو-لنګ-ګې-دل)مصدرِ لازم- پهٔ ژړا کېدل- پهٔ فرياد کېدل- پهٔ انګولا کېدل- پهٔ ماتم کېدل-
خولنګېدن:(خو-لنګ-ګې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ خولنګېدل-
خولنګېدنګ:(خو-لنګ-ګې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ خولنګېدل-
خولنګېدنه:(خو-لنګ-ګې-دنه)حاصلِ مصدر- وګورئ خولنګېدل-
خولنګېدونکے:(خو-لنګ-ګې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خولنګېدونکی- مؤنث خولنګېدونکې- وګورئ خولنګېدل-
خولنګېدهٔ:(خو-لنګ-ګې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دٔ ماضی استمراری دٔ واحد غائب صيغه- وګورئ خولنګېدل-
خولنی:(خو-ل-نی)اسم- مؤنث- يو قسم غرڅنے بوټے چې دٔ چنو پهٔ اندازه داني کوی- دغه داني خلق نيني کوی او خوری يې- (افغانستان)-
خولوابے:(خول-وا-بے)اسم- واحد- مذکر- خولوند- خولوندونے- خولبندے- خولبورے- سنی- ګړ- هغه نرے پړے يا سنی چې دٔ بوجی خلهٔ پرې تړلے کيږی- سوتلی- جمع خولوابی-
خولول:(خو-ل-ول)مصدرِ متعدی- وهل- ټکول- پيول- (۲)منډل- پلنول- تخته کول- پهٔ زمکه منبل- (۳)سره رغړول- ګملول- (۴)غېږ پهٔ غېږ کېدل او جنګ کول- سينه پهٔ سينه جنګ کول- (افغانستان)-
خولون:(خو-ل-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ خولول-
خولوندونے:(خول-ون-دو-نے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ خولوابے-
خولوندے:(خول-ون-دے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ خولوابے-
خولونکے:(خو-ل-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خولونکی- مؤنث خولونکې- وګورئ خولول-
خولونګ:(خو-ل-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ خولول-
خولونه:(خو-ل-ونه)حاصلِ مصدر- وګورئ خولول-
خولونے:(خو-ل-و-نے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم خړرنګے بوټے چې سپېرهٔ ګټلے کيږی-
خولوهٔ:(خو-ل-وهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ خولول-
خوله:(خو-له)اسم- واحد- مؤنث- هغه اُبهٔ يا لوندوالے چې دٔ ګرمۍ، بيماری يا شرم لهٔ وجې دٔ وجود نه وځی- (۲)دٔ اُبو بخارات- (۳)يو قسم واښهٔ-
خوله:(خو-له)اسم- واحد- مؤنث- هغه طلاقه شوې ښځه چې پخوانے مېړهٔ يې بېرته پهٔ نکاح کړی- جمع خولې-
خوله:(خو-له)اسم- واحد- مؤنث- خوبلې- خولی- ټوپی- دٔ سر خولی-
خوله بند:(خو-له-بند)اسم- واحد- مذکر- تود سوړ- برکير- اوګير-
هغه بيماری چې دٔ تودوالی نه پس دٔ سوړوالی پهٔ وجه پېدا کيږی-
خوليمول:(خو-لی-م-ول)مصدرِ متعدی- زړهٔ ناقرارول- خواشنی کول- زړهٔ تورول- کتهارول- دٔ چا بدو ته پهٔ څو کښې کښېناستل-
خوليمولے:(خو-لی-م-ولے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خوليمولی- مؤنث خوليمولې- وګورئ خوليمول-
خوليمون:(خو-لی-م-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ خوليمول-
خوليمونکے:(خو-لی-م-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خوليمونکی- مؤنث خوليمونکې- وګورئ خوليمول-
خوليمونګ:(خو-لی-م-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ خوليمول-
خوليمونه:(خو-لی-م-ونه)حاصلِ مصدر- وګورئ خوليمول-
خوليموهٔ:(خو-لی-م-وهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ خوليمول-
خوليمېدل:(خو-لی-مې-دل)مصدرِ لازم- زړهٔ ناقرارېدل- زړهٔ تورېدل- کتهارېدل-
خوليمېدلے:(خو-لی-مې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خوليمېدلی- مؤنث خوليمېدلې- وګورئ خوليمېدل-
خوليمېدن:(خو-لی-مې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ خوليمېدل-
خوليمېدنګ:(خو-لی-مې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ خوليمېدل-
خوليمېدنه:(خو-لی-مې-دنه)حاصلِ مصدر- وګورئ خوليمېدل-
خوليمېدونکے:(خو-لی-مې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خوليمېدونکی- مؤنث خوليمېدونکې- وګورئ خوليمېدل-
خوليمېدهٔ:(خو-لی-مې-دهٔ)حاصلِ مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ خوليمېدل-
خولېدل:(خو-لې-دل)مصدرِ لازم- (۱)وهل کېدل- ټکېدل- (۲)پلنېدل- تخته کېدل- پهٔ زمکه منبل کېدل- (۳)سره رغړېدل- (۴)غېږ پهٔ غېږ کېدل- (افغانستان)-
خولېدلے:(خو-لې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خولېدلی- مؤنث خولېدلې- وګورئ خولېدل-
خولېدن:(خو-لې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ خولېدل-
خولېدنګ:(خو-لې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ خولېدل-
خولېدنه:(خو-لې-دنه)حاصلِ مصدر- وګورئ خولېدل-
خولېدونکے:(خو-لې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خولېدونکی- مؤنث خولېدونکې- وګورئ خولېدل-
خولېدهٔ:(خو-لې-دهٔ)حاصلِ مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ خولېدل-
خولی:(خو-لی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- خوله- پکړی- پړکی- ټوپی-
خولے:(خو-لے)اسم- واحد- مذکر- سری- دٔ ستنې برغولے- هغه لرګے چې د ستنې پهٔ سر دٔ تير دٔ ټينګولو پهٔ غرض د تير دٔ لاندې ايښودلے شی- (افغانستان)-

ئ" (ښی-رل)، ئ"(ضې-رهٔ-ول)، ئ-(پيا-لی)، ے"(تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

خولے:(خو-لے)اسم- مذکر- دَ غوڅ د لمني سپينه خاوره-

خولے:(خو-لے)اسم- يو سپين بوټے چې اُوږد پنډېر لري او ماشومان يې کچه خوري- جمع خولی- (افغانستان)-

خوم:(خوم)اسم- واحد- مذکر- خُم- مَټ- هغه لوئ مټ چې رنګسازان پکښې جامې رنګوی- د اوړو يا ګړي چاټي- (۲)دَ شرابو چاټي-

خومار:(خو-مار)اسم- مذکر- قمار- خمار- جواری- (۲)ګرد- ګرز- غبار- دوړه- (۳)جوش- ګرمی- (۴)ټوګې- بې فلندې- عبث- (افغانستان)-

خوماری:(خو-ما-ری)اسم- خالوزی- ختورے- شفتالو- شلتالو- شنتالو- يوه مشهوره خوږه ميوه چې په مينځ کښې غټه منډکه لري- نباتاتي نوم د ياره وګورئ: شفتالو- (۲)نشې- نشه ئي-

خومبسه:(خوم-بسه)اسم- واحد- مؤنث- پمبره- مچی-

خومبه:(خوم-به)اسم- واحد- مؤنث- خمبه- دَ غلې داني دَ کېښو سټر کندو- جمع خومبې-

خومخ:(خو-مخ)اسم- مذکر- غار- سمڅ-

خومری:(خوم-ری)اسم- واحد جمع- مؤنث- چوری- لوغی- کټو- غوا لوښے- ګاؤدوشی- خاورين لوښے لکه کټوی- (افغانستان)-

خومښ:(خو-مښ)اسم- خمښ- توده ګردژنه ورځ-

خون:(خون)اسم- واحد- مذکر- وژنه- قتل- قتلِ نفس- مرينه- وژله- بې ګناه وژنه- (۲)وينه- (۳)دَ قتل په وخت کښې دَ ديت يوه ټاکلې اندازه چې نرخيان دَ هغې په قرار دَ قاتل په ذمه دَ مقتول ديت ټاکی- (۴)دَ سعي يوه ټاکلې اندازه چې د ژوبلې په وخت استعمالېږی-

خون:(خون)اسم- واحد- مذکر- خو- پټاحه- پټاټې-

خوناب:(خو-ناب)اسم- مذکر- سرلونې- زيړوبے- زوه- زروبه- ژوې- هغه نو چې وينه ورسره يو ځاۍ وی-

خوناړينه:(خو-نا-ړی-نه)اسم- داړنه- خيرونه- (افغانستان)-

خوناړے:(خو-نا-ړے)اسم- مذکر- ختارو- (افغانستان)-

خوبه:(خون-به)اسم- واحد- مؤنث- خوږيرے- ديکړے- مرخيړے- سمارق-

خون بها:(خون-ب-ها)اسم- واحد- مؤنث- ديت- هغه مالي بدل چې قاتل يې دَ مقتول وارثانو ته ورکوی-

خونجاره:(خون-جا-ره)اسم- واحد- مؤنث- زړه لته- وَرسته پوټه- امباری پوک- زړه او خيرې کېږه- زړه او شليدلې کېږه- (افغانستان)-

خونچه:(خون-چه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خوانچه- دَ لرګی هغه پتنوس چې خواړهٔ پکښې وی- (۲)هغه پتنوس چې د غلوې يا زوم کره پکښې نکريزې، کالی او خواړهٔ وړلے کيږی-

خونچه:(خون-چه)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم ووړکے قالب چې خښته پکښې جوړولے شي- سانچه-

خونکی:(خون-کی)اسم- واحد جمع- مؤنث- خوانچه-

خونخوار:(خون-خوار)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)قاتل- خونی- (۲)ظالم- (۳)دَ وينې ځښونکے- خونړے-

خونخواری:(خون-خوا-ری)اسم- مؤنث- خونی توب- خونړی توب- وژنه- قتلونه- وينې تويونه- (۲)وينه خوړنه- وينه ځښنه- (۳)ظلم-

خونخوارے:(خون-خوا-رے)اسم- وګورئ: خونخوار-

خوند:(خوند)صفت- مذکر- (۱)ذائقه- مزه- لذت- اثر- (۲)شانست- سينګار- پړول-

خوند رنګ:(خوند-رنګ)اسمِ مرکب- رنګ روغن- مزه- پړول پال-

خوندناک:(خوند-ناک)صفت- مذکر- خوندور- مزېدار-

خوندنے:(خون-د-نے)اسمِ صفت- واحد- مذکر- خوندور- مزه ناک- پړولے- (۲)په زړهٔ پورې-

خوندور:(خون-د-ور)صفت- مذکر- مزه ناک- مزه لرونکے- مزه دار- مزېدار- خوندناک-

خوندی:(خون-دی/خوَن-دی)اسمِ صفت- محفوظ- ساتلے شوے- ځاۍ په ځاۍ شوے- پټ کړے شوے-

خونديتوب:(خوَن-دی-توب/خوَن-دی-توب)اسم- ساتنه- حفاظت- محفوظ والے- ځاۍ په ځاۍ کونه- پټونه-

خوندينول:(خوَن-دی-نَ-وَل)مصدرِ متعدی- خوندناک کول- مزېدارول- خوند زياتول-

خوندينون:(خوَن-دی-نَ-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ: خوندينول-

خوندينونکے:(خوَن-دی-نَ-وون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع خوندينونکی- مؤنث خوندينونکې- وګورئ: خوندينول-

خوندينونګ:(خوَن-دی-نَ-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ: خوندينول-

خوندينونه:(خوَن-دی-نَ-وَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ: خوندينول-

خوندينوهٔ:(خوَن-دی-نَ-وهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ: خوندينول-

خوندينېدل:(خوَن-دی-نې-دَل)مصدرِ لازم- مزېدار کېدل- خوندناک کېدل- خوند زياتېدل-

خوندينېدن:(خوَن-دی-نې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ: خوندينېدل-

خوندينېدنګ:(خوَن-دی-نې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ: خوندينېدل-

خوندينېدنه:(خوَن-دی-نې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ: خوندينېدل-

خوندينېدونکے:(خوَن-دی-نې-دُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع خوندينېدونکی- مؤنث خوندينېدونکې- وګورئ: خوندينېدل-

خوندينېدهٔ:(خوَن-دی-نې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ: خوندينېدل-

خونديل:(خوَن-دی-يل)مصدر- پالل- پرورل- نمانځل- ساتل- ژغورل-

خوندې:(خوَن-دې)اسم- ګوندې- ګنې- ګُندې-

خونريزی:(خون-ری-زی)اسم- (۱)وينه ضائع کونه- وينه تويونه- (۲)قتل- وژنه- قتلونه-

خونړے:(خو-نَ-ړے)اسمِ صفت- واحد- مذکر- (۱)خونی- قاتل- وژونکے-

زبر (ج-مهٔ-ره)، زوروکے (شل)، پېښ (تو-کا-ره)، زېر (ک-تاب)، جزم (شکوپ)، ه (و-ږه)، ۀ (پو-ښي-دهٔ)

www pukhto net

(۲)وینه تویونکے۔

خونسرد:(خون-سرد)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)د حوصلې خښتن- سوړ مزاجه- (۲)بې پروا- زړه ماتے- (افغانستان)۔

خونسردي:(خون-سر-دي)اسم- مؤنث- (۱)حوصله- ارامي- سوړ مزاجي- زغم- سړه سینه- (۲)مات زړے- زړه ماتېدنه- بې پروائي- (افغانستان)۔

خونکار:(خون-کار)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)خوني- خونونه کونکے- قاتل- مرګ کونکے- (۲)بدکاری- مؤنث خونکاره- جمع خونکاری۔

خونکاره:(خون-کا-ره)اسم صفت- واحد- مؤنث- د خونکار مؤنث- ظالمه- قاتله۔

خونکی:(خون-کي)اسم تصغیر- مؤنث- وړه خونه یا کور چې د فصل یا درمند د ژغورلو د پاره جوړولے شي۔

خونکټے:(خونګ-ګ-ټے)اسم- مذکر- ټانټه- ټمټه- پنډه- د جوارو ټانټه۔

خونګه:(خونګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- مېږکه۔

خونول:(خو-ن-ول)مصدر متعدی- شیندل- نستل- (۲)قربانول- نثارول- جارول- خارول- صدقه کول۔

خونولے:(خو-ن-وَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خونولي- مؤنث خونولې- وګورئ خونول۔

خونون:(خو-ن-ون)حاصل مصدر- وګورئ خونول۔

خونونکے:(خو-ن-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خونونکي- مؤنث خونونکې- وګورئ خونول۔

خونونګ:(خو-ن-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خونول۔

خونونه:(خو-ن-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ خونول۔

خونوۀ:(خو-ن-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ خونول۔

خونه:(خو-نه)اسم- واحد- مؤنث- کور- کاله- مکان- کوټه- جمع خونې۔

خونه مړے:(خو-نه-مړے)اسم صفت- واحد- مذکر- خانه مړے- کور خوړے- خانه خراب- د بکنځلو په پول استعمالیږی۔

خونه ورانه:(خو-نه-ورانه)اسم صفت- واحد- مؤنث- کورخوړے- خانه ویران- خانه خراب- کورخوړے۔

خوني:(خو-ني)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)خونړے- (۲)قاتل- ادم کش- وینه تویونکے- انسان وژونکے۔

خونین:(خو-نین)اسم صفت- واحد- مذکر- خونړے۔

خونۍ:(خو-نۍ)اسم- واحد- مؤنث- پېټک- مخ پېټک- مخ وروني- د ناوې مخ لوڅي- هغه پیسې چې د ناوې د مخ کتو په وخت ورکولے شي۔

خونے:(خو-نے)اسم- واحد- مذکر- (۱)شندنه- (۲)جارونه- خارونه- نثارونه- صدقه کونه- (۳)هغه سوغات یا سوغاتونه چې د وادۀ نه وروستو ناوې پسې د پلار له کوره لیږلے کیږي- جمع خونې۔

خوڼ بوڼ:(خوڼ-بوڼ)اسم صفت- واحد- مذکر- خول بول- سور بور- پړک درېنجلے- ډیر په قهر او غصه۔

خوڼ خوږے:(خوڼ-خو-ږے)اسم صفت- واحد- مذکر- ګنس- ګڼار- چې پوزه کښې خبرې کوي۔

خوږي:(خو-ږي)اسم- واحد جمع- مؤنث- قاتله- ظالمه- خوني- خون کونکې۔

خوورے:(خو-و-رے)اسم صفت- واحد- مذکر- کچه- پاک- تنکے- جمع خووري۔

خوړه:(خو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- خوړه- د وادۀ پوړی۔

خوهل:(خو-هل)مصدر- (۱)کیندل- کیل- کندل- کنستل- (۲)سپړدل- برخېره کول- سپړودل۔

خوهلے:(خو-هَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خوهلي- مؤنث خوهلې- وګورئ خوهل۔

خوهن:(خو-هن)حاصل مصدر- وګورئ خوهل۔

خوهنګ:(خو-هنګ)حاصل مصدر- وګورئ خوهل۔

خوهنه:(خو-هَنه)حاصل مصدر - وګورئ خوهل۔

خوهونکے:(خو-هون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خوهونکي- مؤنث خوهونکې- وګورئ خوهل۔

خوی:(خوی)اسم- مذکر- (۱)پنجه- پنجاله- منګل- (۲)کوشش- زیار- زحمت- خرے- (افغانستان)۔

خوئ:(خوئ)اسم- مذکر- عادت- خصلت- جمع خویونه۔

خوئ بوئ:(خوئ-بوئ)اسم مرکب- خوئ خصلت- عادت- (۲)تربیت- تربیه۔

خوئي:(خو-ئي)اسم- یو قسم چینجے چې د بادام وغیره پاڼو پورې نښتے وي۔

خوید:(خوید)اسم- واحد جمع- مذکر- خید- د اوړبشو شین فصل چې خلق یې خاروو له ورسي۔

خویشت:(خویشت)صفت- مذکر- خوشت- په اوبو کښې لوند- مؤنث خویشته۔

خویشتول:(خویش-ت-ول)مصدر متعدی- (۱)خوشتول- په اوبو کښې لوندول- (۲)وهل۔

خویشتون:(خویش-ت-ون)حاصل مصدر- وګورئ خویشتول۔

خویشتونکے:(خویش-ت-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خویشتونکي- مؤنث خویشتونکې- وګورئ خویشتول۔

خویشتونګ:(خویش-ت-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ خویشتول۔

خویشتونه:(خویش-ت-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ خویشتول۔

خویشتوۀ:(خویش-ت-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ خویشتول۔

خویشتېدل:(خویش-تې-دل)مصدر لازم- (۱)لوندېدل- خوشتېدل- په اوبو کښې لوندېدل- (۲)وهلے کېدل۔

خویشتېدن:(خویش-تې-دن)حاصل مصدر- وګورئ خویشتېدل۔

خویشتېدنګ:(خویش-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ خویشتېدل۔

خویشتېدنه:(خویش-تې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ خویشتېدل۔

خویشتېدونکے:(خویش-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خویشتېدونکي- مؤنث خویشتېدونکې- وګورئ خویشتېدل۔

ی" (ئی-رل)، ې"(ھې-ره-ول)، ے"(ھیا-لی)، ۍ"(تن-دیے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

خویشتېدهٔ:(خُویش-تې-دهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ خویشتېدل-

خوینده:(خوه-یِن-دے)اسم صفت- خونېدونکے-

خویول:(خُو-یه-وَل)مصدر متعدی- سرول- خوړیول- زخم یا دانه شړول-

خویولے:(خُو-یه-وَهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خویولي- مؤنث خویولې- وګورئ خویول-

خویون:(خُو-یه-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ خویول-

خویونکے:(خُو-یه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خویونکي- مؤنث خویونکې- وګورئ خویول-

خویونګ:(خُو-یه-وَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ خویول-

خویونه:(خُو-یه-وَهٔ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ خویول-

خویوونے:(خُو-یه-وُو-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خویوني- مؤنث خویونې- وګورئ خویول-

خویوهٔ:(خُو-یه-وَهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ خویول-

خوېدل:(خُو-یَ-دَل)مصدرِ لازم- شړېدل- خوړېېدل- دُ زخم یا دانې شړېدل-

خوېدلے:(خُو-یَ-دَهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع خوېدلي- مؤنث خوېدلې- وګورئ خوېدل-

خوېدن:(خُو-يې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ خوېدل-

خوېدنګ:(خُو-يې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ خوېدل-

خوېدنه:(خُو-يې-دَهٔ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ خوېدل-

خوېدونکے:(خُو-يې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خوېدونکي- مؤنث خوېدونکې- وګورئ خوېدل-

خوېدونے:(خو-ی-دُو-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خوېدوني- مؤنث خوېدونې- وګورئ خوېدل-

خوېدهٔ:(خُو-يې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دُ ماضی استمراری دُ واحد غائب صیغه- وګورئ خوېدل-

خوېتی:(خُوې-تی)متعلق فعل- ناګهانه- ناڅاپه-

خوېښ:(خُوېښ)اسم- خېښ- خپل خپلوان-

خوېښي:(خُوې-ښي)اسم- خوشحالي- خوشالي-

خوېله:(خُوې-له)اسم- واحد- مؤنث- خوله- پسینه-

خوے:(خُوے)اسم- واحد- مذکر- پارو- راشېل- رشېل- پهٔ دردمند کښې دُ غلې دُ صفا کولو دُ لرګی آله-

خوے:(خُوے)اسم- دُ وَنو غوړکه- دُ وَنو سپوی- دُ وَنو وخی- (افغانستان)-

خی:(خی)صفت- بنیاد ختلے-

خی:(خی)اسم- خویَ- مزاج-

خی:(خی)اسم- غَل- لویَ بول- (دَماشومانو لهجه)(۲)مکروه څیز-

خی:(خی)اسم صوت- دُ ځاروؤ دُ شړلو اواز-

خیابان:(خَ-یا-بانَ)اسم- واحد- مذکر- واټ- دُ ښار یا باغ پهٔ منځ کښې لویه او فراخه لار- (۲)دُ ګلونو کیاری-

خیار:(خَ-یار)اسم- (۱)انتخاب- (۲)واک- اختیار- واک لرونکے- خیال- (۲)آپشن- هغې معاملې ته وائي چې دُ هغې پهٔ بنیاد معامله لرونکے یو څیز پهٔ معین وخت کښې او دُ ټاکلو شویو شرائطو مطابق اخستے او خرڅولے شي-

خیاره:(خَ-یا-ره)اسم- واحد- مؤنث- دوه ټوټې- دوه ځایه- دوه برخې-

خیاست:(خَیا-ست)اسم- واحد- مذکر- عادت- خاصیت- (افغانستان)-

خیاط:(خَ-یاطَ)اسم- واحد- مذکر- درزی ګنډونکے- دُ جامو، درېشیو او داسې نورو څیزونو ګنډونکے- (م- فارسی)-

خیاطی:(خَ-یا-طی)اسم- درزیتوب- دُ جامو ګنډولو کسب- (م- فارسی)-

خیال:(خَیال)اسم- واحد- مذکر- فکر- سوچ- تصور- پام- (۲)ګومان- وهم- جمع خیالونه-

خیال پرست:(خَیالَ-پَـرَست)اسم- واحد- مذکر- (۱)سوچی- فکری- سوچ کونکے- چُرتی- پهٔ خیال کښې ډوب- (۲)دُ خیال او چُرت خوښونکے-

خیال پرستی:(خَیالَ-پَرَس-تي)اسم- مؤنث- (۱)چُرتی توب- فکری توب- پهٔ خیال کښې غرق والے- (۲)خیال او چُرت خوښونه-

خیال پلو:(خَیالَ-پَـلَو)اسم- دُ چُرت فکر- دُ سوچ دنیا- دُ فکر دنیا- پهٔ خیال کښې ځان څهلو هیلو ته رسونه- پهٔ خیال کښې بله دنیا آبادونه-

خیالژن:(خَیال-ژَن)اسم صفت- واحد- مذکر- خیالمن- خیالور- مغرور-

خیالمن:(خَیالَ-مَن)اسم صفت- خیال ژن- دُ فخر خاوند- وياړمن- مغرور- (۲)دُ سینګار خاوند- پهٔ سینګار مئین- ښځنی- ښېښنی- ړولے-

خیالو:(خیالو)اسم صفت- مؤنث- (۱)خیالي- ړولی ښځه- سینګاری ښځه- (۲)کرانه- محبوبه- محبوبه- شهی- (افغانستان)-

خیالوتکے:(خَیالوتِ-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- مغرور- وياړمن- خیال ژن-

خیالور:(خَیا-لَ-وَر)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ خیالمن-

خیالی:(خَیا-لی)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)دُ خیال- فکری- تصوری- (۲)وياړ کونکے- (۲)ړولی- سینګاری- سینګار کونکے-

خیالی:(خیا-لی)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ خیالو-

خیام:(خی-یام)اسم- واحد- مذکر- تمبو یا خیمه جوړونکے- درزی-

خیانت:(خیانت)اسم- واحد- مذکر- دوکه- بدیانتی- درغلنه- غدر- بې ایمانی-

خیبی:(خی-بی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دُ ېخو أبو کوهے-

خیبني:(خی-بَـنې)اسم صفت- جمع- مؤنث- خل پل پهٔ هوا کښې الوتل- ځغلې پهٔ هوا کښې الوتل-

خیت:(خیتَ)صفت- مذکر- چیت پیت- چت پت- خیت پیت- (۲)خوږ- سپیرهٔ- پهٔ خاورو لړلے-

خیتکه:(خی-ت-که)اسم- واحد- مؤنث- خیتلکه- کرښه- جدول- خط- لیکه- جمع خیتکې-

زبر"(خ-یبهٔ-ره) ، زورکیے"(شل) ، "پېښ"(نو-کـا-ره) ، "زیر"(ک-تـاب) ، "جزم"(شکون) ، "ه"(ز-یـه) ، "هٔ"(پو-ښي-دهٔ)

خېتکے:(خې-تهـکے)اسم- مذکر- وړه ګېډه-
خېتاکه:(خې-تل-که)اسم- واحد- مؤنث- جدول- خېتکه-
خېته:(خې-ته)اسم- واحد- مؤنث- هغه دېوال چې د راغرغېدو وېره ئې وي- جمع خېتې-
خېته:(خې-ته)اسم- واحد- مؤنث- لیکه- خط- کرښه- خېتکه-
خېچن:(خې-چن)اسم صفت- واحد- مذکر- خچن- پوار-
خید:(خید)اسم- وګورئ خوید-
خیر:(خیر)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)شرمنده- (۲)غصه- سوخت- (۳)تیار-
خیرپل:(خیر-پل)اسم صفت- واحد/جمع- مذکر- خل پل- خلا مجا- ریزکاری- ربګ وغیره-
خیرج:(خی-رج)اسم صفت- شرمنده- نادم- خیرخه- خیرجه-
خیرجتوب:(خی-رج-توب)اسم- شرمندګی- خیرجتیا- (افغانستان)-
خیرجتیا:(خی-رج-تیا)اسم- وګورئ خیرجتوب-
خیرجه:(خیر-جه)اسم صفت- وګورئ خیرج-
خیرختوب:(خی-رخ-توب)اسم- مذکر- شرمندګی- خجالت-
خیرخه:(خیر-خه)اسم صفت- وګورئ خیرج-
خیرن:(خی-رن)صفت- مذکر- (۱)ګنده- ناولے- چټل- (۲)خفه- تورزړے-
خیرن پیرن:(خی-رن-پی-رن)صفت- مذکر- بېخي خیرن- ډېر ربات خیرن-
خیرنتوب:(خی-رن-توب)اسم- ګنده والے- خیرنوالے- ناولتوب- چټلتوب-
خیرنتیا:(خی-رن-تیا)اسم- مؤنث- وګورئ خیرنتوب-
خیرن خچن:(خی-رن-خ-چن)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ خیرن خیچن-
خیرن خیچن:(خی-رن-خی-چن)اسم صفت- واحد- مذکر- سخا پهٔ سخا- ناولے- چټل- خیروچټ- مؤنث خیرنه خیچنه-
خیرنوالے:(خی-رن-وا-لے)اسم- وګورئ خیرنتوب-
خیرنول:(خی-رڼن-ول)مصدرِ متعدی- ناولے کول- چټلول- ګنده کول-
خیرنون:(خی-رڼن-ون)حاصل مصدر- وګورئ خیرنول-
خیرنونکے:(خی-رڼن-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خیرنونکي- مؤنث خیرنونکې- وګورئ خیرنول-
خیرنونګ:(خی-رڼن-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ خیرنول-
خیرنونه:(خی-رڼن-وڼنه)حاصلِ مصدر- وګورئ خیرنول-
خیرنوهٔ:(خی-رڼن-وهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ خیرنول-
خیرنېدل:(خی-رڼني-دل)مصدرِ لازم- ناولے کېدل- چټلېدل- ګنده کېدل-
خیرنېدن:(خی-رڼني-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ خیرنېدل-
خیرنېدنګ:(خی-رڼني-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ خیرنېدل-
خیرنېدنه:(خی-رڼني-دڼنه)حاصلِ مصدر- وګورئ خیرنېدل-
خیرنېدونکے:(خی-رڼني-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خیرنېدونکي- مؤنث خیرنېدونکې- وګورئ خیرنېدل-
خیرنېدهٔ:(خی-رڼني-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ خیرنېدل-
خیرول:(خی-ر-ول)مصدرِ متعدی- (۱)سوختول- غصه کول- پهٔ رخه کول- پهٔ کینه کول- (۲)تیارول- اماده کول- ترتیبول- (۳)شرمنده کول- شرمول- خجالت کول- خجالتول- (افغانستان)-
خیرون:(خی-ر-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ خیرول-
خیرونکے:(خی-ر-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خیرونکي- مؤنث خیرونکې- وګورئ خیرول-
خیرونګ:(خی-ر-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ خیرول-
خیرونه:(خی-ر-وڼنه)حاصلِ مصدر- وګورئ خیرول-
خیروهٔ:(خی-ر-وهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ خیرول-
خیره:(خی-ره)اسم- واحد- مؤنث- چټلتیا- ناولتوب- ناپاکي- ګندګي- کثافت- چټلي-
خیره:(خی-ره)اسم- واحد- مؤنث- تته- خړپړ- دَ رڼ ضد-
خیره:(خی-ره)اسم- واحد- مؤنث- حوره- تورو سترګو والا- دَ جنت پېغله- جمع خیرې-
خیرې:(خی-رې)اسم- رمه- زوه- نو-
خیرې کونبلې:(خی-رې-کو-نب-لې)اسم مرکب- خیرې ویرې- د دیګ د وېښ کونبلې-
خیرې میرې:(خی-رې-می-رې)اسم مرکب- خیرې ویرې- مېل کچېل- ګند بلا-
خیرېدل:(خی-رې-دل)مصدرِ لازم- (۱)تهرېدل- غصه کېدل- سوختېدل- (۲)آماده کېدل- تیارېدل-
خیرېدن:(خی-رې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ خیرېدل-
خیرېدنګ:(خی-رې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ خیرېدل-
خیرېدنه:(خی-رې-دڼنه)حاصلِ مصدر- وګورئ خیرېدل-
خیرېدونکے:(خی-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خیرېدونکي- مؤنث خیرېدونکې- وګورئ خیرېدل-
خیرېدهٔ:(خی-رې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ خیرېدل-
خیرے:(خی-رے)اسم- واحد- مذکر- زنګ- ګند- مېل- ګندګي- سخارالے-
خیږ:(خیږ)اسم- واحد- مذکر- خورګ- دَ زخم پترے- پترکے- خوږ- جمع خیږونه خیږان-
خیږکی:(خیږ-کی)اسم- واحد- مذکر- خرار- خرندی- خرکی- فریاد- دَ سینه غل اواز- زوېرکي- دَ مریض دَ ټټر هغه دروند او سېخلے اواز چې دَ سا اخستلو پهٔ وخت ئې کړاو سره راوباسي-
خیږن:(خی-ږن)صفت- مذکر- (۱)خیږ لرونکے- پترے (پترکے) لرونکے- (افغانستان)-
خیږنتوب:(خی-ږن-توب)اسم- مذکر- خیږنتیا- خیږنوالے- زنګوالے-
خیږنتیا:(خی-ږن-تیا)اسم- مؤنث- وګورئ خیږنتوب-

ي" (خی-رل)، ې"(خې-ره-ول)، ئ"(ییا-لي)، ے"(تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

خیږنوالے:(خی-ږن-وا-لے)اسم- مذکر- وګورئ خیږنتوب-
خیږے:(خی-ږے)اسم- مذکر- د بټۍ توده ایره- اورغالے-
خیسوس:(خی-سوس)اسم- مذکر- خړه مرغۍ- سپېره چنچنه- سپېره مرغۍ- (افغانستان)-
خیشاوه:(خی-شا-وه)اسم- کوبه- للون- کوړ- پوچے- چخون- د کرلی شوی فصل نه ګنده بوټی او نور واښهٔ وېستل-
خیشت:(خیشت)اسم صفت- واحد- مذکر- خوشت- خویشت- لوند- خیشت پیشت- (افغانستان)-
خیشت پیشت:(خیشت-پیشت)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ خیشت-
خیشتوالے:(خیشت-وا-لے)اسم- مذکر- خوشتوالے- لوندوالے- خیشت پیشت والے-
خیشتول:(خیش-ت-وَل)مصدرِ متعدی- خوشتول- لوندول- لندول- لمدول- خویشتول-
خیشتون:(خیش-ت-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ خیشتول-
خیشتونکے:(خیش-ت-ون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع خیشتونکی- مؤنث خیشتونکې- وګورئ خیشتول-
خیشتونګ:(خیش-ت-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ خیشتول-
خیشتونه:(خیش-ت-وَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ خیشتول-
خیشتوونے:(خیش-ت-وو-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خیشتوونی- مؤنث خیشتوونې- وګورئ خیشتول-
خیشتوهٔ:(خیش-ت-وهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ خیشتول-
خیشته:(خیش-ته)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)دَ خیشت مؤنث- (۲)اسمان کوچے- غواګۍ- تهسی- کهسی- (افغانستان)-
خیشتېدل:(خیش-تې-دَل)مصدرِ لازم- خوشتېدل- لوندېدل- لمدېدل- خویشتېدل-
خیشتېدن:(خیش-تې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ خیشتېدل-
خیشتېدنګ:(خیش-تې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ خیشتېدل-
خیشتېدنه:(خیش-تې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ خیشتېدل-
خیشتېدونکے:(خیش-تې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خیشتېدونکی- مؤنث خیشتېدونکې- وګورئ خیشتېدل-
خیشتېدهٔ:(خیش-تې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ خیشتېدل-
خیشن:(خی-شن)اسم- دَ باز یو قسم-
خیشوم:(خی-شوم)اسم- دَ پوزې تیره- دَ پوزې هغه سوړے چې دَ دواړو سترګو ترمینځه وی-
خیشه:(خی-شه)اسم- واحد- مؤنث- خوشه- د ږمنځې غاښې-
خیګ:(خیګ)اسم- واحد- مذکر- شناز- لویې مشک چې دَ هوا نه ډک شی او په سیند کښې پرې لامبلے شی-

خیګړے:(خیګ-ړے)اسم تصغیر- مذکر- وړوکے خیګ- وړوکے مشک-
خیلال:(خی-لال)اسم- پوست کړے او مینه کړے مغز-
خیلخ:(خی-لخ)اسم- شرمنده- ملامته-
خیلخول:(خی-لَ-خُ-وَل)مصدر متعدی- شرمول- شرمنده کول- ملامته کول-
خیلخون:(خی-ل-خ-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ خیلخول-
خیلخونکے:(خی-ل-خ-وون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع خیلخونکی- مؤنث خیلخونکې- وګورئ خیلخول-
خیلخونګ:(خی-ل-خ-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ خیلخول-
خیلخونه:(خی-ل-خ-وَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ خیلخول-
خیلخوهٔ:(خی-لَ-خ-وهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ خیلخول-
خیلخېدل:(خی-لَ-خې-دَل)مصدرِ لازم- شرمنده کېدل- ملامته کېدل-
خیلخېدن:(خی-لَ-خې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ خیلخېدل-
خیلخېدنګ:(خی-لَ-خې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ خیلخېدل-
خیلخېدنه:(خی-لَ-خې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ خیلخېدل-
خیلخېدونکے:(خی-لَ-خې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خیلخېدونکی- مؤنث خیلخېدونکې- وګورئ خیلخېدل-
خیلخېدهٔ:(خی-لَ-خې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ خیلخېدل-
خیم:(خیم)صفت- کنګل شوے- جم شوے- کرنګ شوے-
خیمېدل:(خی-مې-دَل)مصدرِ لازم- ټینګېدل- کنګل کېدل- ټونډېدل- سکوربدل- ټونټېدل- خوربدل-
خیمېدن:(خی-مې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ خیمېدل-
خیمېدنګ:(خی-مې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ خیمېدل-
خیمېدنه:(خی-مې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ خیمېدل-
خیمېدونکے:(خی-مې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خیمېدونکی- مؤنث خیمېدونکې- وګورئ خیمېدل-
خیمېدهٔ:(خی-مې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ خیمېدل-
خینجاړی:(خین-جا-ړی)صفت- خراب-
خینځکه:(خین-ځ-که)اسم- واحد- مؤنث- درینځکه- ټوپ-
خینګ:(خینګ)صفت- خنګ- خجل- شرمنده- خرسترګے-
خینګتیا:(خینګ-تیا)اسم- مؤنث- شرم- خجالت-
خینګول:(خینګ-ګ-ول)مصدر متعدی- شرمول- خجلول- خنګول- شرمنده کول-
خینګون:(خینګ-ګ-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ خینګول-
خینګونکے:(خینګ-ګ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع خینګونکی- مؤنث خینګونکې- وګورئ خینګول-
خینګونګ:(خینګ-ګ-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ خینګول-
خینګونه:(خینګ-ګ-وَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ خینګول-

زبر"(خ-بـڅ-ره)، زورکے"(شل)، زیر"(کـ-تـاب)، پېښ"(نو-کـا-ره)، جزم"(شکون)، "ۀ"(ز-ړه)، "ۀ"(پو-هې-دهٔ)

خېنګوه:(خېنګ-ګ-وه)حاصل مصدر- وګورئ خېنګول-

خېنګېدل:(خېنګ-ګې-دل)مصدر لازم- شرمېدل- خجلېدل- خجالت کېدل- خنګېدل-

درړونه (دَر-ړه-وَه-نه)حاصل مصدر- وګورئ درړول-

درړوهٔ:(دَر-ړه-وَهٔ)حاصل مصدر- وګورئ درړول-

درړه:(دَر-ړه)اسم- واحد- مؤنث- منډه- زغاسته- تړره- ترات- پېل- خفل- زغاست-

درز:(دَرز)اسم- واحد- مذکر- (۱)چاود- چود- چوند- (۲)درغور- سچاچه- نمکاچه- دبځه- دومکاچه-

درز:(دَرز)اسم صوت- واحد- مذکر- (۱)درځ- دٔ ځهٔ دروند څيز دٔ غرزېدو يا چاودو اواز- غرز- (۲)شان و شوکت- شهرت-

درزا:(دَر-زا)اسم صوت- د درزېدو اواز- درزهار-

درزا دروز (دَر-زا-دَروز)اسم صوت- وګورئ درز درز/ درز دروز-

درز درز:(دَرز-دَرز)اسم صوت- دٔ مسلسل پرېوتو، وهلو يا دربلو اواز-

درز دروز:(دَرز-دَروز)اسم- (۱)درز غوبل- درز غرب- درز درز- (۲)شان و شوکت- لوئ دبدبه- (۲)قدر عزت- خاطر مدار-

درزغن:(دَرز-غن)اسم- واحد- مذکر- درغن- دٔ لواړې مصالحې اوړولو موار کانې-

درز غوبل:(دَرز-غو-بل)اسم- (۱)غوبمنډ- شور و شر- هله ګله- غوبل- چغې چهارې- مڼ کوکار- (۲)وهل ټکول- ټپل بلر- راکښل ترل-

درزنده:(دَر-زن-ده)اسم- واحد- مذکر- لونبړنده- دٔ غرهٔ موار سر- درزنے-

درزنے:(دَر-زنے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ درزنده-

درزول:(دَر-زه-وَل)مصدر متعدي- درزول- وهل- ټکول- ګرزول-

درزولے (دَره-زه-وَه-لے)مفعول/صفت- واحد- مذکر- وګورئ درزول-

درزون:(دَر-زه-وَن)حاصل مصدر- وګورئ درزول-

درزونکے:(دَر-زه-وون-کے)فاعل/صفت- واحد- مذکر- وګورئ درزول-

درزونګ:(دَر-زه-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ درزول-

درزونه:(دَر-زه-وَه-نه)حاصل مصدر- وګورئ درزول-

درزوهٔ:(دَر-زه-وَهٔ)حاصل مصدر- وګورئ درزول-

درزه:(دَر-زه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)موري- سورے- (۲)درز- چاود- جمع درزې-

درزهار:(دَر-زار/دَر-زه-هار)اسم صوت- وګورئ درزار-

درزی:(دَر-زی)اسم- واحد- مذکر- جامې ګنډونکے- خياط-

درزيتوب:(دَر-زی-توب)اسم- واحد- مذکر- دٔ درزی کار-

درزېدل:(دَر-زې-دَل)مصدر لازم- (۱)ړزېدل- وهل کېدل- ټکېدل- ډبېدل- (۲)جرقېدل- پرله پسې درزا کېدل-

درزېدلے:(دَر-زې-دَه-لے)مفعول/صفت- واحد- مذکر- وګورئ درزېدل-

درزېدن:(دَر-زې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ درزېدل-

درزېدنګ:(دَر-زې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ درزېدل-

درزېدنه (دَره-زې-دَه-نه)حاصل مصدر- وګورئ درزېدل-

درزېدونکے:(دَر-زې-دُون-کے)فاعل/صفت- واحد- مذکر- وګورئ درزېدل-

درزېدهٔ:(دَر-زې-دَهٔ)حاصل مصدر او دٔ ماضي استمراري دٔ واحد غائب صيغه- وګورئ درزېدل-

درزے:(دَر-زے)اسم- وګورئ درزا-

درس:(دَرس)اسم- واحد- مذکر- (۱)سبق- لَست- مطالعه- زدکړه- تعليم- علم- (۲)عبرت- پند- پانبات- پنيات- (۲)جماعت- مدرسه-

درسال:(دَر-سال)اسم- واحد- مؤنث- درشه- چوکاټ- دَرشائي- دٔ دروازې چوکاټ-

درست:(دُرست)صفت- ټيک- صحيح- سم- راست- موزون-

درست:(دُرست)صفت- ټول- وارهٔ- کلهم- سالم- روغ- وارهٔ- ګرد- ثابت-

درستن:(دُرس-تن)اسم- (۱)سامان- (۲)سبکار-

درستناک:(دُرست-ناک)صفت- مذکر- خطرناک-

درستوالے:(دُرست-والے)صفت- مذکر- ټيک والے- صحيح والے- سموالے- جوړوالے- روغوالے- برابروالے- برابرے-

درستوالے:(دُرست-والے)صفت- مذکر- بشپړوالے- ټولوالے- پوره والے-

درستول:(دُرس-ته-وَل)مصدر متعدي- (۱)ټيک کول- سمول- درست کول- سيخول- روغول- جوړول- ګردول- (۲)ونيل- (عموماً دٔ کلمې)-

درستول:(دُرس-ته-وَل)مصدر متعدي- پوره کول- تمامول- بشپړول-

درستون:(دُرس-ته-وَن)حاصل مصدر- وګورئ درستول-

درستون:(دُرس-ته-وَن)حاصل مصدر- وګورئ درستول-

درستونکے:(دُرس-ته-وون-کے)فاعل/صفت- واحد- مذکر- وګورئ درستول-

درستونکے:(دُرس-ته-وون-کے)فاعل/صفت- واحد- مذکر- وګورئ درستول-

درستونګ:(دُرس-ته-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ درستول-

درستونګ:(دُرس-ته-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ درستول-

ئ" (ځی-ږل)، ي"(مې-ره-وَل)، ې"(بیا-لی)، ے"(تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www pukhto net

درستونه:(دَرس-ته-وهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ درستول-
درستونه:(درِس-ته-وهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ درستول-
درستوهٔ:(دَرس-نه-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ درستول-
درستوهٔ:(درس-ته-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ درستول-
درسته:(دَرس-ته)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وسله- (۲)ترکش- دَ غشيو کېښودو کګوره- (۳)غنچه- (۴)ټوله- دَ درست مؤنث-
درستي:(دَرس-تي)صفت- (۱)سموالے- روغوالے- ټيک والے- (۲)صداقت- رښتنوالے-
درستېدل:(دَرس-تې-دل)مصدر لازم- ټيک کېدل- صحيح کېدل- سمېدل- جوړېدل- رغېدل- (۲)ونيلے کېدل- (عموماً دَ کلمې)-
درستېدل:(درس-تې-دل)مصدر لازم- پوره کېدل- مکمل کېدل- تمامېدل-
درستېدن:(دَرس-تې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ درستېدل-
درستېدن:(دَرس-تې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ درستېدل-
درستېدنګ:(دَرس-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ درستېدل-
درستېدنګ:(دَرس-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ درستېدل-
درستېدنه:(دَرس-تې-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ درستېدل-
درستېدنه:(دَرس-تې-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ درستېدل-
درستېدونکے:(دَرس-تې-دون-کے)فاعل/صفت- واحد- مذکر- وګورئ درستېدل-
درستېدونکے:(دَرس-تې-دُون-کے)فاعل/صفت- واحد- مذکر- وګورئ درستېدل-
درستېدهٔ:(درس-تې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- ګورئ درستېدل-
درستېدهٔ:(درس-تې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ درستېدل-
درستے:(دَرس-تے)اسم- واحد- مذکر- رښتينے ګواه- شاهد- حقيقي شاهد- شهادت کونکے-
درسره:(دَر-سه-ره)ضمير مخاطب- درځنه- تا سره-
دَ رسول کچکول:(دَ-رَسول-کچ-کول)اسم- واحد- مذکر- په اسمان کښې هغه څلور ستوري چې يوځاے راخيژي-
درسه:(در-سه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ درځنه-
درسي:(دَر-سي)صفت- درس سره تعلق لرونکے- دَ درس- درس ته منسوب-
درسيم:(در-سيم)صفت- ثالث- منځګړے- دريم ګړے- روغه کونکے-
درش:(درش)اسم- واحد- مذکر- يو قسم ورد بادرنګ-
درشامي:(دَر-شا-مي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ درشل-
درشايه:(در-شا-يه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ درشل-
درشانې:(در-شا-نې)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ درشل-
درشته:(دَ-رَش-ته)اسم- واحد- مؤنث- درويشته- دَ اربشې بوس-

درشتي:(دَ-رَش-تي)اسم- مذکر- سختي- کلکوالے- بې رحمي- بدخوئي-
درشل:(در-شل)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ دروازې چوکاټ- درسال- درشامي- درشايه- (۲)يو قسم ساګ چې دَ کندنې په شان وي- جمع درشلې-
درشن:(در-شن)اسم- واحد- مذکر- کتنه- ليدنه- ديدن- (۲)نمائش- ښکاره- ځان ښودنه-
درشنډ:(در-شنډ)اسم- واحد- مذکر- کرشندے- کورے-
درشنے:(در-شه-نے)صفت- واحد- مذکر- درشن کونکے- ځان ښودونکے- مؤنث درشنې- جمع درشنيان-
درشول:(در-شول)اسم- واحد- مذکر- يو قسم بوټے چې خواږهٔ ګلونه لري او دَ شاتو مچې ورله راځي-
درشونبوے:(در-شُون-بوے)اسم- واحد- مذکر- وربوز- شونبوک- سونبوک- (افغانستان)-
درشهوار:(دُر-شه-وار)اسم- واحد- مذکر- دَ مرغلرې ښهٔ قسم- ښهٔ مرغلره- قيمتي مرغلره-
درښت:(درښت)صفت- ټينګوالے- پائېداري-
درښتن:(در-ښتن)اسم- واحد- مذکر- (۱)ښېګړه- نېکي- ښهٔ- فائده- (۲)مرسته- پره-
درغريبي:(در-غه-ري-بي)اسم مرکب- (۱)غريبي- عاجزي- نېستي خواري- کمزوري (۲)خوارې مزدوري- خواري خسکې-
درغړې:(در-غه-ړې)صفت- ترغنې- چچ پچ- په يو ځاے يا لږ ځاے کښې ډېر ريات-
درغزن:(دَر-غ-زن)اسم- واحد- مذکر- درغن- درغن- دَ مرچ مصالحې مېده کولو هوار کاڼے- پلنه ډبره- دَ کاڼي تخته- شياخه- شياخه- (۲)پلنونه- تخته کونه- (۳)پټارې- هغه تخته چې مړي ورباندې لمبوي-
درغستل:(در-غس-تل)مصدر- غولول- تېرايستل- تېرماسل-
درغستلے:(دَر-غس-تهٔ-لے)مفعول صفت- وګورئ درغستل-
درغستن:(در-غس-تَن)حاصل مصدر- وګورئ درغستل-
درغستنګ:(دَر-غس-تَنګ)حاصل مصدر- وګورئ درغستل-
درغستنه:(دَر-غس-تهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ درغستل-
درغستونکے:(در-غس-تُون-کے)فاعل/صفت- وګورئ درغستل-
درغستهٔ:(در-غس-تهٔ)حاصل مصدر- وګورئ درغستل-
درغل:(در-غل)صفت- (۱)کوټه- کلپ- (۲)منافق- دروغژن- (۳)پرېشان- خوار- زورېدلے- (۴)کېر- محاصره- احاطه- بند-
درغلتوب:(دَر-غل-توب)اسم- واحد- مذکر- ټګي- چل- دوکه-
درغلتيا:(در-غل-تيا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ درغلتوب-
درغلندي:(در-غه-لن-دي)اسم- منافقت- درغلي- دوه رنګي-
درغلندے:(در-غه-لن-دے)صفت- (۱)دوکه باز- چلولي- (۲)خيانت ګر-
درغلنه:(در-غه-له-نه)اسم- واحد- مؤنث- منافقت- دوه رنګي- درغلي-

www.pukhto.net

خیانت- تکی- چلباری- چل- دروغه-

درغلول:(دَر-غه-له-ول)مصدر متعدی- (۱)ناقلاره کول- بې تابه کول- (۲)راګېرول- راایسارول-

درغلولے:(دَر-غه-له-وَلے)مفعول صفت- جمع درغلولي- مؤنث درغلولې- وګورئ درغلول-

درغلون:(در-غه-له-وَن)حاصل مصدر- وګورئ درغلول-

درغلونکے:(دَر-غه-له-ون-کے)فاعل صفت- جمع درغلونکي- مؤنث درغلونکې- وګورئ درغلول-

درغلونګ:(در-غه-له-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ درغلول-

درغلونه:(دَر-غه-له-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ درغلول-

درغلوۀ:(در-غه-له-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ درغلول-

درغله:(در-غه-له)صفت- چلباز- تګ- تګی ژن-

درغلي:(دَر-غه-لي)اسم- واحد- مؤنث- تګی- مُنافقت- چَل- چلبازی- چلول- تګی بوری-

درغلېدل:(در-غه-لي-دَل)مصدر لازم- (۱)نیول کېدل- ګېرېدل- محاصره کېدل- ایسارېدل- (۲)ناقراره کېدل- بې لوامه کېدل- نارامه کېدل- (افغانستان)-

درغلېدلے:(در-غه-لي-دَ-لے)مفعول صفت- جمع درغلېدلي- مؤنث درغلېدلې- وګورئ درغلېدل-

درغلېدن:(دَر-غه-لي-دَن)حاصل مصدر- وګورئ درغلېدل-

درغلېدنګ:(دَر-غه-لي-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ درغلېدل-

درغلېدنه:(در-غه-لي-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ درغلېدل-

درغلېدونکے:(دَر-غه-لي-دَون-کے)فاعل صفت- وګورئ درغلېدل-

درغلېدۀ:(در-غه-لي-دۀ)حاصل مصدر- وګورئ درغلېدل-

درغلے:(در-غه-لے)صفت- وګورئ درغله

درغلے:(در-غه-لے)معمول- حاضر شوے- موجود-

درغن:(در-غَن)اسم- واحد- مذکر- درغزن- درغښ-

درغنے:(در-غه-نے)صفت- (۱)ګڼه ګوڼه- ازدحام- بیړ و بار- (۲)اسم- پانګو-

درغن:(در-غن)اسم- واحد- مذکر- وګورئ درغزن-

درغه:(در-غَ-نه)اسم- خچ پیچ- درغړي-

درغنے:(در-غه-نے)متعلق فعل- غاړه غړۍ- (دَ جنګ په حالت کښې)-

درغوره:(دَر-غو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم بوټے چې د لښتو نه یې جاروکانې جوړولے شي-

درغوږ:(دَر-غوږ)اسم- واحد- مذکر- (۱)سوړه- سورے- درز- دروږ- (۲)دَ ښاروزی لږ شان غوږ پرېکونه- (۲)دَ منبتې ښاروے- نذری پسۀ-

درغول:(در-غول)اسم- واحد- مذکر- (۱)پارچاو- پرچاو- اګل- د اُبو د پرېښودو ځاې- په نهر یا وله کښې دَ زیاتی اُبو دَ پاره جوړه شوې موری-

(۲)تنګه دره- کنداو- وټ- عت- تنګے-

درغول:(در-غه-وَل)مصدر متعدی- پنوبول- نغوتول- دوکه کول- تېر باسل- تېرایستل-

درغول برغول:(دَر-غول-بَر-غول)صفت- تس نس- ګډوډ- درهم برهم- پېچیده-

درغولول:(دَر-غو-له-وَل)مصدر متعدی- دَ نهر یا ولې اُبۀ په ناکه یا موری کښې پرېښول-

درغولون:(در-غو-له-ون)حاصل مصدر- وګورئ درغولول-

درغولونګ:(در-غو-له-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ درغولول-

درغولونه:(دَر-غو-له-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ درغولول-

درغولوونکے:(دَر-غو-له-وون-کے)فاعل صفت- واحد- مذکر- وګورئ درغولول-

درغولوۀ:(در-غو-له-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ درغولول-

درغولېدل:(دَر-غو-لي-دَل)مصدر لازم- په درغول کښې اُبۀ ایله کېدل- دَ نهر یا ولې اُبۀ په ناکه یا موری پرېښولے کېدل- (افغانستان)-

درغولېدن:(دَر-غو-لي-دَن)حاصل مصدر- وګورئ درغولېدل-

درغولېدنګ:(دَر-غو-لي-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ درغولېدل-

درغولېدنه:(دَر-غو-لي-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ درغولېدل-

درغولېدونکے:(دَر-غو-لي-دَون-کے)فاعل صفت- واحد- مذکر- وګورئ درغولېدل-

درغولېدۀ:(دَر-غو-لي-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ درغولېدل-

درغون:(در-غه-وَن)حاصل مصدر- وګورئ درغول-

درغونکے:(دَر-غه-وون-کے)فاعل صفت- وګورئ درغول-

درغونګ:(در-غه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ درغول-

درغونه:(دَر-غه-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ درغول-

درغوۀ:(در-غه-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ درغول-

درغېدل:(در-غي-دَل)مصدر لازم- نغوتېدل- پنوېدل-

درغېدلے:(در-غي-دَ-لے)مفعول صفت- واحد- مذکر- وګورئ درغېدل-

درغېدن:(در-غي-دَن)حاصل مصدر- وګورئ درغېدل-

درغېدنګ:(در-غي-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ درغېدل-

درغېدنه:(در-غي-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ درغېدل-

درغېدونکے:(در-غي-دَون-کے)فاعل صفت- واحد- مذکر- وګورئ درغېدل-

درغېدۀ:(در-غي-دۀ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ درغېدل-

درک:(دَرک)اسم- واحد- مذکر- (۱)د دروازې ربک (رپ)- (۲)دَ خونې غولے- دَ کور غولے- انګړ- (۳)پته- نښه- نښانه- برلګه- پته لګته- پته لګنه- نښه نښانه-

www.pukhto.net

درک:(دَ-رَک)اسم- واحد- مذکر- (۱)ژور ځوړ شوي لرګي چې په ورخ کښې دَ اَبو د تقسیمولو د پاره ایښودل کیږي- دَ اَبو خله- د اَبو د دانې سوري- (۲)موقع- وخت- ځای-

درک (درک)اسم- واحد- مذکر- فهم- پوهه- قابلیت- پوهېدنه- تمیز- پېژندنه- هغه معلومات چې انسان ته د احساس په وسیله د چاپېرچل نه معلومیږي-

درکار:(در-کار)اسم- واحد- مذکر- یو قسم بوټے چې زیړ ګل او سپین بېخ لري-

درکړ:(دَ-ر-کړ)اسم- واحد- مذکر- د بکې (تانکې) دَ پای کړه حلقه- دَ کاوی کړه الغه-

درکرې:(در-که-رې)اسم- واحد جمع- مؤنث- دَ ځاروېو د ساتلو ځای- غوجل- آغل-

درکے:(دَر-کے)اسم- واحد- مذکر- دَ مرزانو دَ نیولو جال- لومه- کړکی-

درک:(دَرک)اسم صوت- دَ زړهٔ دَ حرکت اواز- دربه- (۲)دَ پښو اواز- ښکالو- (۲- اسم- واحد- مذکر-)ځنګل-

درک:(درک)صفت- د ژور ضد- (۲)په هوار ځای کښې لږ وچت ځای- ښق ځای- (۲)ترنګلے- ترینګلے-

درګا:(دَر-ګا)اسم- واحد- مذکر- د بلاول ټاټ یو ښینځهٔ سُری راګ چې دَ وئیلو وخت ی دَ غرمې دوه بجې دي- دَ شپې هم وئیلے شي-

درګا:(دَرہ-ګا)اسم صوت- درمهار- دربار- دربے-

درګاه:(دَر-ګاه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)استانه- دربار- (۲)دروازه- د دروازې خله- دَرشل- ور بوږے- (۲)زیارت- مزار- روضه- خانقاه-

درکد:(در-کد)اسم- غنې ایښودنه- ازغی ایښودنه- غنې تاوونه- دَ غنو وېره- د غنو سپړل-

درګرده:(در-ګر-ده)صفت- مسلسل- پرله پسې- یو بل پسې- متواتر-

درګړ:(در-کړ)صفت- جوت- جوړ- نمبروار- پرله پسې-

درګړ:(دَرہ-ګړ)اسم- واحد- مذکر- هغه پېړ او غټ لرګے چې د کوټې په منځنی برخه اچولے کیږي- لاړے- لهږے- تیر- ګودره-

درګړې درګړې:(درګ-ړې-درګ-ړې)صفت- ټوټې ټوټې- دړې دړې- دړې نړې- (۲)ېر ستړے- غمژن- (۲)تس نس- ګډوډ- وران وېجاړ-

درکوټے:(در-کو-ټے)اسم- واحد- مذکر- دَ لوخو وړوکے ځنګل- دَ کړکیو وړوکے ځنګل-

درګه:(در-ګه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)قوږګه- ډک کړکے- نچه- ډک نل- (۲)دَ شړو ځنګل- د لوخې ځنګل-

درګه:(درہ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- د ببوی دَ راکښلو پړے- (۲)منډه تړه- زغاسته- رګه-

درګهار:(درګ-هار)اسم صوت- درمار- دربهار- دربه- دروب- دربے- دربا- درګا-

درکی:(در-کی)اسم- مؤنث- درې- درې خاله لرونکې دَ تاش پته- دربکی-

درکے:(دَرہ-کے)اسم صوت- (۱)درګهار- (۲)په منډه کښې دَ پښو یو بل پسې مسلسل اوازونه-

درل:(دَ-رل)مصدر- وګورئ دربدل-

درلل:(در-لل)مصدر- لرل- څهٔ څیز ساندې قبضه لرل- څهٔ څیز په قبضه کښې کېدل-

درلنګی:(دَر-لنګ-ګی)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ درلنګے-

درلنګے:(در-لنګ-ګے)اسم- واحد- مذکر- هغه لرګے چې غوایان ورسره تړلے شوی وي او عوبل پرې کولے شي- موږے- درمولے-

درلودل:(دَر-لو-دل)مصدر- وګورئ لرل-

درلودلے:(دَر-لو-دَلے)مفعول صفت- واحد- مذکر- وګورئ لرل/درلودل-

درلودنه:(دَر-لو-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ لرل/درلودل-

درلودونکے:(دَر-لو-دُون-کے)فاعل صفت- واحد- مذکر- وګورئ لرل/درلودل-

درلودهٔ:(دَر-لو-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ لرل/درلودل-

درلوول:(دَر-لو-ول)مصدر- وګورئ لرل-

درلوولے:(دَر-لو-ولے)مفعول صفت- واحد- مذکر- وګورئ درلودل/لرل-

درلوونکے:(دَر-لو-ون-کے)فاعل صفت- واحد- مذکر- وګورئ درلودل/لرل-

درلوونه:(در-لو-ونه)حاصل مصدر- وګورئ درلودل/لرل-

درلوونے:(دَر-لو-وونے)فاعل صفت- واحد- مذکر- درلوونکے- لرونکے-

درله:(در-له)ضمیر مخاطب- وګورئ درته-

درلهٔ:(در-لهٔ)حاصل مصدر- درلودهٔ- وګورئ درلل-

درم:(درم)اسم صوت- (۱)دَ توپې غږ- دَ توپې اواز- (۲)دَ څهٔ غټ او درون څیز دَ غرځېدو اواز- (۲)دَ ډولکی اواز- (۴- اسم- واحد- مذکر-) دبدبه- شان و شوکت- رعب- (۵)پښتې- د دېوال پښتې-

درم:(درم)اسم- واحد- مذکر- د یوې سکې نوم- درهم- (م- عربی)-

دوم:(د-رم)اسم- واحد- مذکر- (۱)دین او ایمان- (۲)مذهب- (م- هندی)-

درمان:(در-مان)اسم- واحد- مذکر- علاج- دوائي- دارو- دار و مدار- (فارسی)-

درمانده:(در-مان-ده)صفت- واحد- مذکر- (۱)حاجتمند- ضرورتمند- عاجز- بېچاره- غریب- بې وسه- (۲)ستړے ستومانه-

درمب:(درمب)اسم صوت- وګورئ درم- دَ ډولکی وغیره اواز- درمبا-

درمبا:(درم-با)اسم صوت- وګورئ دربهار درم-

درمبول:(درم-بہ-ول)مصدر متعدی- (۱)ډولکے غږول- (۲)وهل- ټکول- په پښو باندې څهٔ څیز وهل/کېښمنډل-

درمبولے:(درم-بہ-ولے)مفعول صفت- واحد- مذکر- وګورئ درمبول-

درمبونکے:(درم-بہ-ون-کے)فاعل صفت- واحد- مذکر- وګورئ درمبول-

درمبونه:(درم-بہ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ درمبول-

درمبهار:(درم-بہ-هار)اسم صوت- وګورئ دربهار- (۲)دَ ډولکی دَ غږولو پرله

پسې اواز- يو مخيز اواز-

درمېبدل:(درم-بې-دَل)مصدر لازم- (۱)ولکے غوبدل- (۲)دَ څهٔ څيز د پاسه ټوپونه وهل يا کښېمښولے کېدل- تحته کېدل-

درمېبدنه:(درم-بې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ درمېبدل-

درمېبدونکے:(درم-بې-دون-کے)فاعل صفت- واحد- مذکر- وګورئ درمېبدل-

درمېبدهٔ:(درم-بې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ درمېبدل-

درمټ:(دَر-مټ-مټ)اسم- واحد- مذکر- د کچه او پوله ځائ د کښېمښلو يوه درنه آله- دَ کاڼو ټکولو د اُسپنې درنه آله-

درمسال:(دَ-رَم-سال)اسم- واحد- مذکر- دَ هندوانو عبادت خانه-

درمغول:(در-مه-غول)صفت- مذکر- کډوډ- وران ويجاړ- خراب ترابه- اخوا دمخوا-

درمکښ:(درم-کښ)اسم- واحد- مذکر- د اُسپنې ووړه ستن چې د جرړمو کتې او خرکورې پرې کنډلے شي-

درمل:(دَر-مَل)اسم- مذکر- هغه مېوه چې پوره پخه شوې نهٔ وي- نيم پخه- کچه مېوه- (۲)خواني ته نژدې چې لا يې پېره نهٔ وي راغلې- ځوانکے- ژېکے-

درمل:(دَر-مَل)تابع مهمل- د دارو تابع مهمل- علاج دارو- دوا-

درملتوب:(دَر-مَل-توب)اسم- واحد- مؤنث- ډاکټرې- طبيبي- د دارو درملو کار- (افغانستان)-

درملتون:(در-مل-تون)اسم- واحد- مؤنث- دواخانه- د دارو دُکان- (افغانستان)-

درملګر:(در-مل-ګر)اسم- واحد- مذکر- ډاکټر- معالج- طبيب- (افغانستان)-

درمليار:(دَر-مل-يار)اسم- واحد- مذکر- وګورئ درملګر- (افغانستان)-

درملے:(دَر-مه-لے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ درملګر- (افغانستان)-

درمن:(دَر-مَن)صفت- مذکر- وګورئ درمند-

درمند:(در-مند)اسم- واحد- مذکر- درمن- راټول شوے فصل او غله- هغه ځائ چې غله او فصل پکښې د مېده کولو دَ پاره راغونډ کړے شوے وي-

درمنده:(در-من-ده)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د ستيو غنهارے- د څې ګرځنے- درېندنه- (۲)سرپېچک- سرترونے-

درمندے:(در-من-دے)اسم- واحد- مؤنث- هغه دانې چې د درمند نه پس پاتې شوې وي- د درمند تلے- رش تلے- پاتې شوې دانې-

درمول پل:(دَر-مَل-پل)اسم- واحد- مذکر- هغه ځائ چې نجونې او لونړې پکښې کېږي-

درمولے:(دَر-مو-لے)اسم- واحد- مذکر- هغه لرګے يا ستن چې د غوبل کولو په وخت د غاړويو د پاره بنحولے شي- د غوبل ستن- درنګلے-

درمه:(دَر-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)نل- نے- کرکے- نچه- هغه بنډور چې منځ ئې تش وي- (۲)د ټوپک شپېلۍ- د ټوپک مېل- (۳)خواني- د انسان ځبرهٔ- ونه- قد-

درناوے:(در-ناوے)صفت- (۱)دروندوالے- (۲)احترام- عزت-

درنجکه:(دَرن-جه-که)اسم- واحد- مؤنث- ټوپ وهنه- دانګه- درنچکه- جمع درنجکې-

د رنجوکاتے:(د-رن-جو-کاتے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ تونيا-

درنجے:(درن-جے)کلمه- (۱)د باران څڅېدلو کلمه- بارانے- (۲)رکوړې برکوړې- امينکې-

درند:(درند)اسم- واحد- مذکر- (۱)وګورئ درمند- (۲)د يوې غرنيزې ونې سوم چې دَ کېلاس په شان وي

درندسترګے:(درند-ستر-ګے)صفت- واحد- مذکر- هغه څوک چې نظر يې لګي يعنې بل څا ته چې ګوري نقصان رسي- دروندسترګے- بدسترګے- نږندے-

درندوالے:(درند-وا-لے)صفت- مذکر- وګورئ دروندوالے-

درندول:(درن-ده-ول)مصدر متعدي- وګورئ دروندول درنول-

درنده:(د-رن-ده)اسم- واحد- مذکر- داړونکے- ماتونکے ځناور-

درنده:(د-رن-ده)اسم- واحد- مؤنث- ورېدونکې ورېځ- هغه ورېځ چې باران نري اوري-

درندے:(درن-دے)اسم- واحد- مذکر- دَ بزو دَ اينې او کولمو ناروغي-

درندېدل:(درن-دې-دَل)مصدر لازم- وګورئ دروندېدل درنېدل-

درنښت:(در-نښت)اسم- (۱)دروندوالے- (۲)عزت- درناوے-

درنګ:(درنګ)اسم- واحد- مذکر- وقفه- ډيل- ايسارېدنه- ځنډېدنه- (۲)کان- معدن- (۳)صفت- وچه- کلکه او هواره زمکه- (۴ اسم صوت) دَ رباب اواز- ترنګ- ټنګ-

درنګا:(درنګ-ګا)اسم صوت- وګورئ درنګهار-

درنګ دورنګ:(درنګ-درونګ)اسم صوت- دَ موسيقۍ د ساز اواز- شرنګ شرونګ- ټنګ ټونګ- ترنګ ترونګ-

درنګلے:(درنګ-لے)اسم- واحد- مذکر- هغه لرګے چې غواياں ورپورې تړلے شوي وي او غوبل پرې کولے شي- دَ غوبل ستن- درمولے-

درنګول:(درنګ-ګه-ول)مصدر متعدي- ترنګول- ټنګول- شرنګول- دَ رباب نه اواز وېستل- رباب غږول-

درنګولے:(درنګ-ګه-ولے)مفعول صفت- واحد- مذکر- وګورئ درنګول-

درنګون:(درنګ-ګه-ون)حاصل مصدر- وګورئ درنګول-

درنګونکے:(درنګ-ګه-ون-کے)فاعل صفت- واحد- مذکر- وګورئ درنګول-

درنګونګ:(درنګ-ګه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ درنګول-

درنګوهٔ:(درنګ-ګه-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ درنګول-

درنګه:(درنګ-ګه)صفت- واحد- مؤنث- مردار شوے حيوان- مرداره- لاش- سخره-

درنګهار:(درنګ-ګه-هار)اسم صوت- شرنګهار- ترنګهار- ترنګا- ټنګهار- ...

ئ (څې-ول)، ي (اې-ره-ول)، ې (يپا-لې)، ے (ن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

درنګېدل:(دَرَنګ-ګې-دل)مصدرِ لازم- شرنګېدل- ټنګېدل- ترنګېدل-

درنګېدلے:(دَرَنګ-ګې-دَلے)مفعول صفت- واحد- مذکر- وګورئ درنګېدل-

درنګېدن:(دَرَنګ-ګې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ درنګېدل-

درنګېدنګ:(دَرَنګ-ګې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ درنګېدل-

درنګېدنه:(دَرَنګ-ګې-دَنَه)حاصل مصدر- وګورئ درنګېدل-

درنګېدونکے:(دَرَنګ-ګې-دُون-کے)فاعل صفت-واحد- مذکر- وګورئ درنګېدل-

درنګېده:(دَرَنګ-ګې-دَه)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ درنګېدل-

درنواله:(دَرَن-وا-لَه)اسم- دروندواله- (۱)لويي والے- شرافت- (۲)درندوالے- درنښت-

درنول:(دَرمَنَـ-وَل)مصدرِ متعدي- (۱)عزت ورکول- قدر ورکول- قدرمند کول- (۲)وزن زياتول- دروندول-

درنون:(دَرمَنه-وَن)حاصل مصدر- وګورئ درنول-

درنونکے:(دَره-نه-وون-کے)فاعل صفت- واحد- مذکر- وګورئ درنول-

درنونګ:(دَرمَنه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ درنول-

درنونه:(دَرمَنه-وَنَه)حاصل مصدر- وګورئ درنول-

درنوه:(دَرمَنه-وَه)حاصل مصدر- وګورئ درنول-

درنه:(دَرمَنه)صفت- (۱)د درونډ مؤنث- (۲)سخته او خرابه بيماري-

درنه:(دَرنَه)ضمير مخاطب- درځنه- درختې- درڅخه- درشکه-

درنه مار:(دَرنَه-مار)اسم- واحد- مذکر- جلاد- جلات- قتل کونکے- وژونکے-

درنېدل:(دَرمَنې-دَل)مصدرِ لازم- عزت ړيتېدل- عزتمند کېدل- (۲)وزن زياتېدل- درونډ کېدل-

درنېدن:(دَرمَنې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ درنېدل-

درنېدنګ:(دَرمَنې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ درنېدل-

درنېدنه:(دَرمَنې-دَنَه)حاصل مصدر- وګورئ درنېدل-

درنېدونکے:(دَرمَنې-دُون-کے)فاعل صفت- واحد- مذکر- وګورئ درنېدل-

درنېده:(دَرمَنې-دَه)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ درنېدل-

درو:(درو)اسم- مذکر- وګورئ دروه-

درواز:(دَر-واز)صفت- مذکر- (۱)تږمور- ترور- وارخطا- (۲)تسکور- پړمخ- سرچپه-

دروازګۍ:(دَر-وا-زَمګۍ)اسم- واحد جمع- مؤنث- وړه دروازه-

دروازه:(دَر-وا-زَه)اسم- واحد- مؤنث- ثمبه- ور- دړه- جمع دروازې-

درواغ:(دَر-واغ)اسم- مذکر- دروغ- (افغانستان)-

درواغژن:(دَر-واغ-ژَن)صفت- مذکر- وګورئ دروغژن- (افغانستان)-

دروان:(دَر-وان)اسم- واحد- مذکر- دربان- ورساتونکے- پېره دار- دروانچي-

دروانچي:(دَر-وان-چي)اسم- واحد- مذکر- وګورئ دروان،دربان-

دروب:(دَرُوب)اسم صوت- د څهٔ څيز دَ پرېوتو اواز- دَ يو څيز دُ بل څيز سره د جنګېدو آواز-

دروبن:(درو-بن)اسم- دَ مېلمنو دَ دارمدار کړاز- دُ مېلمستيا زحمت- (افغانستان)-

درويټ:(دَ-رُو-يټ)اسم- يوه لرغوني مشکله سندره- درويه- درېټ- دهرېه-

دروټ:(دَ-رُوټ)اسم- مذکر- وګورئ دُرټ-

درود:(دَ-رُود)اسم- واحد- مذکر- دُ صلوٰة، برکت او سلامتيا دعا چې دُ نبي عليه السلام دُ نوم اوريدو سره دُ رحمت دُ طلب دُ پاره لُستے شي- صفت- ستائنه- دعا- تعريف- رحمت- صلواة- تحسين- شاباسے- سلام- (فارسي)-

درودګر:(دَ-رود-ګر)اسم- واحد- مذکر- ژرنده ګرے-

درور:(دَرُور)اسم- واحد- مؤنث- اينډرور- ندرور- دُ خاوند خور-

درووڼ:(دَر-وو-ړن)اسم- واحد- مذکر- يو ډول بوټے چې چاروګانې ترې جوړولے شي- دروړنګ-

دروړنګ:(دَر-وو-ړنګ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ درووڼ-

دروز:(دروز)تابع مهمل- (۱)دَ درز تابع مهمل- وګورئ درز- (۲)اسم صوت- د توپې د چلېدو اواز- (۲)د څهٔ څيز د غرځېدو اواز-

دروزاره:(دَر-و-زا-ره)اسم- مؤنث- دروزه-

دروزګر:(دَرُوز-ګر)اسم- واحد- مذکر- (۱)نجار- ترکاڼ- لوهار- (۲)استکار-

دروزه:(دَرُو-زَه)اسم- واحد جمع- مؤنث- دُ غنمو، اُربشو وغيره ښېر چې ورې ترې جدا کړے شوې وي- دروزاره-

د روژې مياشت:(دَ-رو-ژې-مياشت)اسم- واحد- مؤنث- دُ هجري قمري کال نهمه مياشت- رمضان المبارک-

درووږ:(دَر-ووږ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ درووږے-

درووږے:(دَر-وو-ږے)اسم- واحد- مذکر- دُ نذر يا منښتې ګاروے- درووږ- نهه لروونکے دُ نذر ګاروے-

دروګه:(دَرُو-ګه)اسم- واحد- مؤنث- شان شوکت- رعب داب- دبدبه-

دروګه:(دَرَو-ګه)اسم- واحد- مؤنث- بندوبست- غمخواري-

درول:(دَر-وَل)مصدرِ متعدي- (۱)ودرول- لګول- نيول- (۲)تم کول- تمول- ځنډول- متوقف کول- (۳)کانديدول- (۴)مقررول- ګمارل- ګومارل- (افغانستان)-

درولے:(دَر-وَلے)مفعول صفت- واحد- مذکر- وګورئ درول-

دروم:(دَرُوم)اسم صوت- درب- دروميب- دُ توپې اواز- دُ ټوپک دُ خلاصېدو اواز-

دروم:(دَرُوم)اسم- واحد- مذکر- د مارش تومانده- درومه- مرش- (افغانستان)-

درومل:(دَرُو-مَل)مصدر- تلل-

درومَلے:(دَرُو-مَلے)صفت مفعول- واحد- مذکر- وګورئ درومل-

درومنه:(دَرُو-مَنَه)حاصل مصدر- وګورئ درومل-

www.pukhto.net

درومونکے:(دَرُو-مُونَ-کے)فاعل صفت- واحد- مذکر- وګورئ درومل-

درون:(در-ون)اسم- واحد- مذکر- هغه ځایَ چې نچې او لوښي پکښې ښنې شوی وی- بېزار- درون- درونے-

درون:(دَ-رُون)صفت- اندرون- دننه- زړهٔ (فارسی)-

درون:(دَرمُون)حاصل مصدر- وګورئ درول-

دروند:(دَرُوند)صفت- مذکر- (۱)زیات وزن لرونکے څیز- هغه څیز چې وزن ئې زیات وی- (۲)باعزته- باوقاره- قدرمند- عزت مند- (۳)سکین-

درونډبار:(دَرُوند-بار)اسم مرکب- غیر ضروری سامان- (افغانستان)-

درونډبارے:(دَرُوند-با-رے)اسم- درونډبار وړونکې وسیله- (افغانستان)-

درونډوالے:(دَرُوند-وا-لے)اسم- مذکر- (۱)درنښت- دَ وزن زیاتوالے- (۲)عزت-

دروندول:(دَرُون-دَ-ول)مصدر متعدی- وګورئ درنول-

درونډېدل:(دَرُون-دې-دل)مصدر لازم- وګورئ درنېدل-

درونکے:(دَرمُون-کے)فاعل صفت- واحد- مذکر- وګورئ درول-

درونګ:(دَرمُونګ)حاصل مصدر- وګورئ درول-

درونه:(دَرمُونه)حاصل مصدر- وګورئ درول-

دروڼ:(در-وڼ)اسم- واحد- مذکر- د مچو (تلونو) ځنګل- نېزار- دروړے-

دروڼے:(دَ-رو-ڼے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ دروڼ-

دروه:(دَرموه)متعلق فعل- فی الحال- فوراً- سمدستي- بې ځنډه-

دروه:(دَروه)اسم- (۱)چل- ټګی- دوکه- غلونه- (۲)اندېښنه- ویره- ډار-

دروهٔ:(دَرمُوهٔ)حاصل مصدر- وګورئ درول-

دروهل:(دَرو-هل)مصدر متعدی- چا سره ټګی کول- غولول- دوکه کول- (۲)خورول- پهٔ عذابول-

دروهلے:(درو-هَلے)صفت مفعول- واحد- مذکر- وګورئ دروهل-

دروهنه:(دَرو-هَنه)حاصل مصدر- وګورئ دروهل-

دروهول:(دَرو-هَول)مصدر متعدی- وګورئ دروهل-

دروهونکے:(دَرو-هُون-کے)فاعل صفت- واحد- مذکر- وګورئ دروهل-

دروهه:(دَرو-هه)صفت- چلباز- مکار- دوکه باز-

دروهېدل:(دَرو-هې-دل)مصدر لازم- (۱)خطا کېدل- غولېدل- (۲)ویرېدل- مکرمند کېدل-

دروهېدلے:(دَرو-هې-دَلے)مفعول صفت- واحد- مذکر- وګورئ دروهېدل-

دروهېدن:(درو-هې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ دروهېدل-

دروهېدنګ:(درو-هې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ دروهېدل-

دروهېدنه:(درو-هې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ دروهېدل-

دروهېدونکے:(درو-هې-دون-کے)فاعل صفت- واحد- مذکر- وګورئ دروهېدل-

دروهېدهٔ:(درو-هې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ دروهېدل-

دروهیل:(درو-هي-یل)مصدر- وګورئ دروهېدل دروهل-

درویشت:(در-ویشت)اسم عدد- شل او درې- درې دَ پاسه شل- ۲۳-

درویشتم:(در-ویش-تم)صفت- مذکر- عددی صفت- د درویشت صفتی شکل-

درویشتمه:(در-ویش-تَمه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ درویشتمې روژې شپه چې پکښې عبادتونه، دعاګانې او سورتونه لستلے شي- دَ سورتونو شپه- (۲)د درویشتم مؤنث شکل-

درویشته:(در-ویش-ته)اسم- مؤنث- درشته-

دروېزګر:(دَر-وېز-ګر)صفت- مذکر- فقیر- ګدا- سوالګر- چرګر- خېرات ټولونکے-

دروېزه:(دَر-وې-زه)اسم- واحد- مؤنث- خیر ټولونه- خیر غوښتنه- سوالګری-

درویش:(دَر-ویش)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)خدایٔ ته رسېدلے- ولي- بزرګ- قلندر- فقیر- ملنګ- (۲)غریب- نېستمن-

درویشي:(در-وي-شي)اسم- مؤنث- (۱)دَ درویش کار- درویشتوب- (۲)غریبي- نېستمني-

درویغ:(در-ویغ)اسم- مذکر- دروغ- (افغانستان)-

درویے:(دَر-ویے)اسم- مذکر- دورمه- تهمه- تل-

دره:(دَ-ره)اسم- واحد- مؤنث- تنګے- ناوه- دَ دوو غرونو تر منځ ځایٔ-

دره:(دُ-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)تازیانه- متروکه- (۲)کاکوړه-

درهار:(دَرمهار)اسم صوت- (۱)د باران یا دَ ولې دَ وربېدو اواز- (۲)دَ اور د لمبو اواز-

درهدکي:(در-هد-کي)کلمه- دَ خیر کلمه چې دَ ماشوم یا دَ بل څیز دَ غرځېدو پهٔ وخت وئیلے شي- بسم الله- خیر-

درهم:(در-هم)اسم- واحد- مذکر- دَ دینار سلمه حصه- دَ سپینو زرو یوه سکه- وګورئ درم- جمع درهمونه-

درهم برهم:(در-هم-بر-هم)صفت- ګډوډ- وران ویجاړ- بې ترتیبه-

درهه:(دُر-هه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دم- دعا- دم درهه- (۲)جادو منتر- جمع درهې-

درهیسته والے:(دَر-هیس-ته-وا-لے)اسم- نژدې والے-

دری:(در-ئی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)یوه ریښمینه کپړه- دریاني- کناویز-

دری:(د-ری)اسم- واحد- مؤنث- دَ پارسیانو ژبه- د تاجکو ژبه-

دریا:(در-یا)اسم- واحد- مذکر- وګورئ دریاب- (فارسی)-

دریا:(در-یا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ دریه-

دریاب:(در-یاب)اسم- واحد- مذکر- (۱)رود- سیند- سین- سمندر- بحر-

دریابي:(دَر-یا-بي)صفت- (۱)دریاب ته منسوب- د دریاب متعلق- (۲)فراخ- ډېر زیات- نهٔ ختمېدونکے- (۳)ډېر سخي-

دریال:(در-یال)اسم- واحد- مذکر- وګورئ دریه-

دریاني:(دَر-یا-ني)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ دري-

دریبل:(تری-بل)اسم- مذکر- اطریفل- اتریپل- یوه مشهوره یوناني دوا-

دریځ:(دَ-ریځ)اسم- واحد- مذکر- (۱)منبر- ممبر- لوړ ځایٔ- د ودرېدلو

ئ (ښی-رل)، ږ (ږهي-رڼ-ول)، ک (ږهیا-لي)، ږ (تی-دږي) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

خاۍ- (۲)گدا- نڅا- دریس- (۳)موقف- استقامت-

دریخه:(دَ-ری-خه)اسم- واحد- مؤنث- وړه کړکۍ- دریگه- درڅه-

دریڅه:(دَ-ری-څه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ دریخه- جمع دریڅې-

دریس:(دَریس)اسم- گډا- نڅا-

دریم:(دَرِه-یَم/دَ-ریَم/دریم)صفت- مذکر- عددي صفت چې د دویم او څلورم تر منځ درجه یا رتبه ښائي- دَ درې صفتي شکل-

درینجې:(درین-جې)اسم- درینځې- زلزل- زلزله-

درینځې:(درین-ځې)اسم- واحد- مذکر- درینجې- دریندې- دریده-

درینڅکه:(درین-څ-که)اسم- واحد- مؤنث- درنڅکه- ارغوڅکه- جمع درینڅکې-

دریند:(دَریند)صفت- درونډ- درون- دَ درونډ بل قرأت-

درینده:(درین-ده)اسم- واحد- مؤنث- (۱)سرتړونې- سرپیچک- (۲)دَ ځنیو لړی- دَ ځنیو کلاوه- ځنې- سنې-

دریندې:(دَرین-دې)اسم- واحد- مذکر- دَ پسونو دَ اینې شنې کېدو یو قسم بیماري- درندې- درینځې-

درینګ:(دَرینګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)ځنګل- ګڼ ځنګل- (۲)صفت- سخته زمکه- (۳)کلک- سخت-

درینګل:(دَرینګ-ګل)مصدر متعدي- (۱)کښېمښل- سختول- خوړول- (۲)په یو ځیز کښې بل ځیز په زور منډل-

درینګلې:(دَرینګ-لې)صفت- واحد- مذکر- (۱)دَ غصې په حالت کښې- (۲)ډېر موړ- (۳)ټت پټ- جمع درینګلي-

درینګلې:(دَرینګ-ګښ-لې)مفعول صفت- واحد- مذکر- وګورئ درینګل-

درینګن:(دَرینګ-ګن)حاصل مصدر- وګورئ درینګل-

درینګنګ:(دَرینګ-ګنګ)حاصل مصدر- وګورئ درینګل-

درینګنه:(دَرینګ-ګه-نه)حاصل مصدر- وګورئ درینګل-

درینګول (دَرینګ-ګه-ول)مصدر متعدي- (۱)ټینګول- تخته کول- پلنول- دربل- په یو ځیز کښې بل ځیز منډل (ځایول)- (۲)کشکول (دَ رسۍ یا پړی)-

درینګولې:(دَرینګ-ګه-وَه-لې)مفعول صفت- واحد- مذکر- وګورئ درسګول-

درینګون (دَرینګ-ګه-ون)حاصل مصدر- وګورئ درینګول-

درینګوکې:(دَرینګ-ګون-کې)فاعل صفت- واحد- مذکر- وګورئ درسګل-

درینګونکې:(دَرینګ-ګه-وون-کې)فاعل صفت- وګورئ درینګول-

درینګونګ (دَرینګ-ګه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ درینګول-

درینګونه (دَرینګ-ګه-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ درینګول-

درینګوَه (دَرینګ-ګه-وَه)حاصل مصدر- وګورئ درینګول-

درینګه:(دَرینګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کلکه او سخته زمکه- (۲)یو قسم بیماري- درینګ- درینګې-

درینګېدل:(دَرینګ-ګې-دَل)مصدر لازم- (۱)ټینګېدل- تخته کېدل- سختېدل- (۲)دَ څهٔ ځیز دَ پاسه کرځېدل- (۳)کشېدل- کشکېدل (دَ رسۍ یا پړی)-

درینګېدلې:(دَرینګ-ګې-دَه-لې)مفعول صفت- واحد- مذکر- وګورئ درینګېدل-

درینګېدن:(دَرینګ-ګې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ درینګېدل-

درینګېدنګ:(دَرینګ-ګې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ درینګېدل-

درینګېدنه:(دَرینګ-ګې-دَه-نه)حاصل مصدر- وګورئ درینګېدل-

درینګېدونکې:(دَرینګ-ګې-دُون-کې)فاعل صفت- واحد- مذکر- وګورئ درینګېدل-

درینګېدهٔ:(دَرینګ-ګې-دَهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ درینګېدل-

درینګې:(دَرینګ-ګې)اسم- واحد- مذکر- وګورئ درینګه-

درینې:(دَرې-نې)اسم- واحد- مذکر- سهېږمه- سهږمه- تمېزې-

دریو:(دَریو)صفت- سترګې په لار- منتظر-

دریه:(دَر-یه)اسم- واحد- مؤنث- دَ موسیقۍ یوه لرغوني آله- تمبل- چمبه- دریاګۍ- دریال- داریال- جمع درېي/دریه ګانې-

درې:(دَړې)کلمهٔ تنفر- اخوا- لرې- ایسې- ځه-

درې:(دَرې)اسم عدد- دَ دوو او څلورو تر منځ عدد- ۳-

درې اتیا:(دَرې-اَت-یا)اسم عدد- دَ دوه اتیا او څلور اتیا تر منځ عدد- اتیا او درې- ۸۳-

درې اتیالس:(دَرې-اَت-یا-لس)اسم عدد- درې نوي- ۹۳- (افغانستان)-

درې اتیایم:(دَرې-اَت-یا-یَم)صفت- عددي صفت چې دَ دوه اتیایم او څلور اتیایم تر منځ درجه ښئي-

درې اتیایمه:(دَرې-اَت-یا-یَه-مه)اسم عدد دَ درې اتیایم مؤنث صفتي شکل-

درې اړخیز:(دَرې-اړ-خیز)صفت- مذکر- درې ګټه- درې څنډیز- درې ځنګیز- درې جانبه- مثلث-

درې اویا:(دَرې-اَو-یا)اسم عدد- دَ دوه اویا او څلور اویا تر منځ عدد- ۷۳-

درې اویایم:(دَرې-اَو-یا-یَم)صفت- عددي صفت چې دَ دوه اویا او څلور اویا تر منځ درجه ښئي-

درې اویایمه:(دَرې-او-یا-یَه-مه)اسم عدد دَ درې اویایم مؤنث صفتي شکل-

درې ایکیځه:(دَرې-اې-کي-ځه)اسم- مؤنث- پنځ پوله- درې ایکیزه- پنځ پولي-

درې ایکیزه:(دَرې-اې-کي-زه)اسم- وګورئ درې ایکیځه-

درې بوجه:(دَرې-بو-جه)اسم- په یوه جرګه یا مرکه کښې دَ مشرانو شمېره دَ څهٔ وجوهاتو له کبله دَ ټاکلې شوي تعداد نه یو په درې زیاتونه-

درې پېړیک:(دَرې-پهٔ-ړیک)صفت- مذکر- منافق- ټګ- چلولی- شپږ پېیز- درې پېیز- درې ژنګې-

درې پېمېز:(دَرې-پهٔ-مېز)صفت- مذکر- درې پښې لرونکې- درې پښې- مؤنث درې پښیزه-

درې پلې:(دَرې-پلې)اسم- واحد- مذکر- دَ بېهیر لوبه- (افغانستان)-

www.pukhto.net

دري پنځوس:(دري-پن-ځوس)اسم عدد- دري دَ پاسه پنځوس- ۵۳-

دري پنځوسمه:(دري-پن-ځو-سَـ-مه)اسم عدد دَ دري پنځوسم مؤنث صفتي شکل-

دري پنځوسم:(دري-پن-ځو-سم)صفت- مذکر- عددي صفت چې د دوه پنځوسم او څلور پنځوسم تر منځ درجه ښئي-

دري جرېز:(دري-جه-رېز)صفت- مذکر- دري جرړي لرونکے- دري مونږېز-

دري چنده:(دري-چن-ده)صفت- يو په درې- دري گونه- دري غبرگ-

دري څلوېښت:(دري-څل-وېښت)اسم عدد- څلوېښت او درې- ۴۳-

دري څلوېښتم:(دري-څل-وېښ-تَم)صفت- مذکر- عددي صفت چې دَ دوه څلوېښتم او څلور څلوېښتم تر منځ درجه ښئي-

دري څلوېښتمه:(دري-څل-وېښ-تَـ-مه)اسم عدد- دَ دري څلوېښتم مؤنث صفتي شکل-

دري ځنډے:(دري-ځن-ډے)صفت- مذکر- چې دري ځنډې لري- دري اړخيز-

درېدل:(د-ري-دل)مصدر لازم- (۱)ځکېدل- لګېدل- ولاړېدل- (۲)ـمېدل- ځنډېدل- وَدرېدل- (۳)تعين کېدل- ټاکلے کېدل-

درېدلے:(دَ-ري-دَ-لے)مفعول/صفت- وګورئ درېدل-

درېدن:(دَ-ري-دَن)حاصل مصدر- وګورئ درېدل-

درېدنګ:(دَ-ري-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ درېدل-

درېدنه:(دَ-ري-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ درېدل-

درېدونکے:(دَ-ري-دُون-کے)فاعل/صفت- واحد- مذکر- وګورئ درېدل-

درېده:(دَ-ري-دَه)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ درېدل-

دري دېرش:(دري-دېرش)اسم عدد- مذکر- دېرش او درې- ۳۳-

دري دېرشم:(دري-دېر-شَم)صفت- مذکر- عددي صفت چې دَ دوه دېرشم او څلور دېرشم تر منځ درجه ښئي-

دري دېرشمه:(دري-دېر-شَـ-مه)اسم عدد دَ دري دېرشم مؤنث صفتي شکل-

دري ېېيز:(دري-ېه-ېيز)صفت- مذکر- وګورئ دري ېړيکه- مؤنث دري ېېيزه-

درېرخ:(دري-رخ)اسم- واحد- مذکر- مېږ- مېرخ- مړاخ- کرک- نوږز- سائنسي نوم (COTURNIX)-

درېز:(دَرېز)امر- وګورئ درېږه-

دري ژنکے:(دري-ژن-کے)صفت- مذکر- وګورئ دري ېړيکه-

درېږه:(دَرېږه)امر- (۱)ودرېږه- درېش- (۲)دَ فوځيانو په قطار کښې ودرونه-

درېسکلے:(درېس-که-لے)صفت- واحد- مذکر- دري کلنے اوښ- دري ورکے-

درېش:(دَرېش)امر- (۱)دَ ودرولو کلمه- وګورئ درېږه- (۲)دَ سر او ږيرې ويښتهٔ سمونه-جوړونه- (۳)دَ زمکې لوړه ژوره هوارونه-

دري شپېتم:(دري-شپې-تَم)صفت- مذکر- عددي صفت چې دَ دوه شپېتم او څلور شپېتم تر منځ درجه ښئي-

دري شپېتمه:(دري-شپې-تَـ-مه)اسم عدد د دري شپېتم صفتي شکل-

دري شپېته:(دري-شپې-ته)اسم عدد- درې دَ پاسه شپېته- ۶۳-

درېشي:(د-ري-شي)اسم- مؤنث- (۱)کرته پتلون- کوټ پتلون- وردي- (۲)هوارونه- برابرونه- جوړونه (دَ زمکې يا ږيرې)-

دري شرلے:(دري-شر-لے)صفت- مذکر- څلور کلنے پسهٔ- وزګړے-

دري ښاخې:(دري-ښا-خې)اسم- واحد- مؤنث- دري ښاخې- دري غاښې-

دري ښاخې:(دري- ښا-خې)اسم- واحد جمع- مؤنث- دَ رشې الوځولو، پوګ اړولو، دَ درروزې راغنډلو او داسې نورو کارونو لهٔ پاره ېکارېدونکې د لرګې يا اُسپنې نه جوړه دري ښاخيزه آله- ښاخې- شانکې- دري غاښې- سکو-

درېښکے:(درېښ-کے)اسم- واحد- مذکر- دَ منداټو دَ چلولو مزے- ورشکے- جلب- کېړه- ورګه- جلو- قېزه- کوزه-

درېغ:(درېغ)دَ افسوس کلمه- (۱)انکار- (۲)آه آه- وش- ارمان- افسوس- ویٔ ویٔ- (۳)صرفه- سستي- اسره- سانته- سهما- (۴)دروغ-

دري غاښې:(دري-غا-ښې)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ دري ښاخې-

دري غاښے:(دري-غا-ښے)صفت- واحد- مذکر- په غاښ درې- دري کلنے- دري ورکے-

درېغ من:(دَرېغ-مَن)صفت- مذکر- ناراض- ناخوښ-

درېغول:(دري-غه-ول)مصدر متعدي- نهٔ ورکول- سپمول- سرپول-

درېغه:(دري-غه)دَ تاسف کلمه- افسوس- ارمان-

درېغه درېغه:(دري-غه-دري-غه)مرکب- دَ افسوس کلمه- ارمان ارمان- افسوس افسوس-

دري کلنے:(دري-که-له-نے)صفت- مذکر- دَ درېو کالو- وګورئ دري غاښے-

درېکټ:(دري-کټ)اسم- واحد- مذکر- يو قسم لوبه چې څلور مربع شکل کښې کرښې ووهلے شي او دَ اوو کسانو لهٔ خوا په درېو درېو ګيټيو کولے شي-

درېګون:(دري-ګون)عددي صفت- دري چنده- دَ درېو څخه جوړ-

دري ګونه:(دري-ګو-نه)صفت- وګورئ دري چنده-

درېکے:(دري-کے)اسم- مذکر- د جوارې يو قسم چې په درېو ېېډيو کولے شي-

درېيم:(درېيم/درېيم/درېيم)صفت- (۱)عددي صفت چې دَ دوېم او څلورم تر منځ درجه ښئي- په دوېم پسې- (۲)دَ ېير ورځ-

درېمان:(دري-مان)صفت- وګورئ درېمګړے-

دري مخے:(دري-مه-خے)صفت- مذکر- دري مخه لرونکے- دري اړخيز-

درېم کجه:(درېم-که-جه)اسم- شپږغاښے غوښے چې عمر ئ څلور کاله وي-

درېمګړے:(درېم-ګه-ړے)صفت- واحد- مذکر- منصف- ثالث- درېمان-

دري ماريز:(دري-م-ما-ريز)صفت- مذکر- چې دري منارې لري-

درېم نمبريز:(درېم-نم-به-ريز)صفت- په درېم نمبر-

درېمولن:(دري-مو-لن)اسم- جوړه- فيصله- روغه-

ک" (ځي-رل)، ټ"(ځې-رم-ول)، ي"(ېيا-لي)، ے"(تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

دري مونډېر:(دري-مُون-ډېز)صفت- مذکر- چې درې مونډه لري- درې جرېز-

دربمه:(درېـمه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)يو رسم چې دَ ولادَ ځلمے دَ ولادَ نه وروستو سره دَ ښځو خپلوانو دَ سخر کور ته په مېلمستيا ځي- (۲)دَ مری دريمه ورځ- (۳)دَ دريم مؤنث صفتي شکل-

دربمه خور:(درېـمه-خور)اسم- واحد- مؤنث- دَ قمری کال پنځمه مياشت- جمادی الاول-

دري نوی:(دري-نـوی)اسم عدد- دري د پاسه نوی- ۹۳-

دري نوی يم:(دري-نـه-وی-يَم)صفت- مذکر- عددی صفت چې دَ دوه نوی او ځلور نوی تر منځ درجه ښئي-

دري نيم سره:(دري-نيم-سه-ره)اسم- څوکند چې دَ کوژدن شوې جينۍ رشته دارو کښې دړېو سړيو او يوې ښځې ته لهٔ رشتې د منګرېدو په صورت کښې ورکولے شي- (افغانستان)-

دري ورګے:(دري-وَر-ګے)صفت- مذکر- دری کلنے اوښ-

دړبوزګر:(دُ-رېوز-ګر)اسم صفت- وګورئ درويزګر-

دړبوزي:(دُ-رېو-زي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ درويزي-

دړي:(دُ-ړي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دَ سټو، سپېميو يا دَ پلاسټکي مزيو نه اوبدل شوې غټه شوله کېړه چې دَ نالستی او روټی خوړولو وغيره دَ پاره پکاريږي- پوړ- دړنې-

دړے:(دُ-ړے)اسم- واحد- مذکر- پښتی- پشته- اړم-

دړ:(دړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)پارسنګ- پاسنګ- دړه- پوسنګ- پورسنګ- پسانګ- (۲)دَ تلې چابرے- (۳)دَ وزن کاڼے- (۴)دَ بنيادم تنه بوده- (۵)ارت- کمېشن- دړت- د دړواڼی پېشه- (۶)درد- دړد- (۷)غټه تله-

دړا:(دَ-ړا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ داړه-

دړاکه:(د-ړا-که)اسم- واحد- مؤنث- دړکه- دبکه- دبکه- دباز-

دړت:(دړت)اسم- واحد- مذکر- جمع دړتونه- کمېشن- کټ کمېشن- سود- دړ-

دړج دړج:(دړج-دړج)مرکب- جيګ جيګ- تپ تپ- په شا تپونه- جنګی سپاهيانو له پاڅيرنه ورکونه-

دړد:(دړد)اسم- واحد- مذکر- دړ- درد- خوږ- څړيکه- بريښ- سوے- تکليف-

دړدانګ:(دړ-دانګ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ دړدنګ-

دړداوهٔ:(دړ-دا-وهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ دړدول-

دړدتک:(دړ-د-تک)اسم- واحد- مذکر- ارت ارت تلنه-

دړ دړ:(دړ-دړ)صفت- ذره ذره- ټوټه ټوټه- دړې دړې- (افغانستان)-

دړدړے:(دړ-ده-ړے)اسم- واحد- مذکر- پانېکو- پېکو- هغه آله چې دانې پرې مېده کولے شي-

دړد غم:(دړد-غم)اسم مرکب- (۱)پريشانی- حنګان- (۲)ګړوړ-

دړدنګ:(دړ-دنګ)صفت- (۱)په يوه منډه- سم دَ لاسه- دَ خوښی او خوشحالی منډه- دری دنګ- ګالګوچکه- (۲)شېبه- لحظه- (۳)په غړانګو ژړا- لوړه ژړا- (۴)ګړه وړه سندره- بې خونده سندره-

دړدوبره:(دړ-دوب-ره)اسم- په شور او زوږ- په زوږ- دړدوپره-

دړدوپره:(دړ-دوپ-ره)اسم- وګورئ دړدوبره-

دړدوړ:(دړ-دوړ)صفت- مذکر- مات ګوډ- مېده مېده- چوری چوری- ريچې ريچې-

دړدوک:(دړد-دوک)اسم مرکب- دوک دړد- غم درد- تکليف- سختۍ-

دړوکے:(دُ-ړو-کے)اسم- واحد- مذکر- دَ پټ او امريکنی ټوپک دَ لرګی برنۍ ټوټه-

دړدول:(دړ-ده-ول)مصدر متعدی- دردول- چا ته درد رسول- تکليف رسول- خوږول- په عذابول-

دړدولے:(دړ-ده-وَ-لے)مفعول/صفت- واحد- مذکر- وګورئ دړدول-

دړدون:(دړ-ده-ون)حاصل مصدر- وګورئ دړدول-

دړدونکے:(دړ-ده-وون-کے)فاعل/صفت- واحد- مذکر- وګورئ دړدول-

دړدونګ:(دړ-ده-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ دړدول-

دړدونه:(دړ-ده-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ دړدول-

دړدېدل:(دړ-دې-دَل)مصدر لازم- دردېدل- خوږېدل- تکليف رسېدل- درد رسېدل- عذابېدل-

دړدېدلے:(دړ-دې-دَ-لے)مفعول/صفت- واحد- مذکر- وګورئ دړدېدل-

دړدېدن:(دړ-دې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ دړدېدل-

دړدېدنګ:(دړ-دې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ دړدېدل-

دړدېدنه:(دړ-دې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ دړدېدل-

دړدېدونکے:(دړ-دې-دون-کے)فاعل/صفت- واحد- مذکر- وګورئ دړدېدل-

دړدېدهٔ:(دړ-دې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ دړدېدل-

دړز:(دړز)اسم صوت- (۱)دَ ټوپک دَ ډز اواز- غړز- درز- (۲)دَ څهٔ څيز دَ پرېوتو اواز-

دړز:(دړز)اسم- واحد- مذکر- درز- چاوده- چاک- درځ-

دړزول:(دړ-ز-ول)مصدر متعدی- درزول- وهل- ټکول-

دړزولے:(دړ-ز-وَ-لے)مفعول/صفت- واحد- مذکر- وګورئ دړزول-

دړزون:(دړ-ز-ون)حاصل مصدر- وګورئ دړزول-

دړزونکے:(دړ-ز-وون-کے)فاعل صفت- واحد- مذکر- وګورئ دړزول-

دړزونګ:(دړ-ز-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ دړزول-

دړزونه:(دړ-ز-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ دړزول-

دړزوهٔ:(دړ-ز-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ دړزول-

دړزېدل:(دړ-زې-دَل)مصدر لازم- درزېدل- وهلے کېدل- ټکولے کېدل-

دړزېدلے:(دړ-زې-دَ-لے)مفعول/صفت- واحد- مذکر- وګورئ دړزېدل-

دړزېدن:(دړه-ري-دن)حاصل مصدر- وګورئ دړزېدل-

دړزېدنګ:(دړه-ري-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ دړزېدل-

دړزېدنه:(دړه-ري-دڼه-نه)حاصل مصدر- وګورئ دړزېدل-

دړزېدونکے:(دړه-ري-دون-کے)فاعل صفت- واحد- مذکر- وګورئ دړزېدل-

دړزېده:(دړه-زي-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ دړزېدل-

دړغم:(دړ-غم)صفت- مذکر- ګوړ-

دړک:(د-ړک)اسم صوت- درزا- د زړه دړزا-

دړکه:(د-ړه-که)اسم- واحد- مؤنث- لعنت ملامت- په خېرو تهديدونه- دبکه- دېکه- داړکه- پېه-

دړکېدل:(دړه-کې-دل)مصدر لازم- درزېدل- ګړېېدل- پورته غورځېدل- زړه دړکېدل- ټکان يا غورځېدل-

دړکېدلے:(دړه-کې-دڼه-لے)مفعول صفت- واحد- مذکر- وګورئ دړکېدل-

دړکېدن:(دړه-کي-دن)حاصل مصدر- وګورئ دړکېدل-

دړکېدنګ:(دړه-کي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ دړکېدل-

دړکېدنه:(دړه-کي-دڼه-نه)حاصل مصدر- وګورئ دړکېدل-

دړکېدونکے:(دړه-کي-دون-کے)فاعل صفت- واحد- مذکر- وګورئ دړکېدل-

دړکېده:(دړه-کي-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ دړکېدل-

دړوانی:(دړ-وا-ني)صفت- تول کونکے- تولي- دړوي- تولګر-

دړوکی:(د-ړو-کي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)د لرګي وړه ټوټه- د ډړي اسم تصغير- (۲)د چلغوزي د ونې هغه دړه چې بلولے شي- (۳)ښوڼتي- ايږي- يږي- چراغ چوب-

دړونے:(د-ړو-نے)اسم- واحد- مذکر- خرېړے- خمبه- دوړنګ-

دړوی:(دړ-وی)صفت- مذکر- وګورئ دړوانی-

دړه:(د-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د لرګي ټوټه- د لرګي يا هډوکي نه ببله شوې ټوټه- تخته- (۲)د لرګي چاوده- (۳)درز- (۴)ونه- قد و قامت- (۵)دروازه- (۶)د خټکي يا هندواڼې تراژه- جمع دړې-

دړه:(د-ړه)اسم- واحد- مؤنث- د تش لوښي تلنه- وګورئ دړ-

دړه:(د-ړه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ دوړه- ګرده- ګرد- ګرده-

دړه دړه:(د-ړه-د-ړه)صفت- مرکب- ټوټه ټوټه- ټوټنکي ټوټنکي- ذره ذره-

دړه دوړه:(د-ړه-دو-ړه)اسم- (۱)شور ماشور- شور زوږ- غوربيو- غالمغال- عوربش- (۲)دوړه دپکه- دوړه دبکه-

دړه مار:(د-ړه-مار)صفت- مذکر- وګورئ داړه مار-

دړه ماری:(د-ړه-ما-ري)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ داړه ماری-

دړه ماکو:(د-ړه-ما-کو)اسم- واحد- مذکر- يو قسم بوټے چې په فصل (رياتره په شفتلو او جوارو) کښې راشين کيږي- شمخه- سپارکه-

دړی دنګ:(د-ړی-دنګ)صفت- مذکر- سپک لمنے- سپک پولے- لاندې پربوتے-

پکه سپکه-

دړيز:(د-ړيز)اسم- واحد- مذکر- د لاندې د غوښې يوه غنډه او غټه ټوټه چې جدا خوړنده وي- د لاندې غوټه-

دړيکه:(د-ړي-که)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لپه دپه- ورکه-

دړې:(د-ړې)اسم- جمع- مؤنث- (۱)کړکی- کلکين- ورسی- (۲)د لرګي ټوټې-

دړې دړې:(د-ړې-د-ړې)صفت- مرکب- (۱)ټوټې ټوټې- پارچې پارچې- دړې ذړې- ټکړې ټکړې- دړی وړې- (۲)تس نس- ګډوډ-

دړې وړې:(د-ړې-و-ړې)صفت- مرکب- وګورئ دړې دړې-

دړی:(د-ړی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- د زنانو د سر کالے- (۲)خلور سپره ورن- خلور سپره- (۳)د لوښو او خوراکي څيزونو د ايښودو الماری-

دړی ټيک:(د-ړی-ټيک)اسم- واحد- مذکر- د اوربل يا تندي يو ښخينه کالے-

دړے:(د-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)څاڅکے- قطره- (۲)هغه لوښے چې مائع يا غوړ وربانديې اندازه کولے شي-

دزار:(د-زار)اسم- واحد- مذکر- جوار- جوارے- د جوارو غله- د جوارو دانې- (افغانستان)-

دزارينه:(د-زا-ري-نه)اسم- واحد- مؤنث- جواری- سوکړک- سوړ سکړک کولے- د جوارو ډوډی- د جورو ډوډی-

دزره:(دز-ړه)اسم- پرختيا- بوروکی- بزرګی-

دزول:(د-زول)مصدر متعدی- بزول- غربول- وهل- ټکول-

دزولے:(د-زو-لے)مفعول صفت- واحد- مذکر- وګورئ دزول-

دزون:(د-زون)حاصل مصدر- وګورئ دزول-

دزونکے:(د-زو-ون-کے)فاعل صفت- واحد- مذکر- وګورئ دزول-

دزونګ:(د-زو-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ دزول-

دزونه:(د-زو-ڼه-نه)حاصل مصدر- وګورئ دزول-

د ژرندی پل:(د-ژرن-دي-پل)اسم- واحد- مذکر- په ژرنده کښې هغه پلن کاڼے چې دانې پرې مېده (اوړه) کولے شي-

د ژواک بندګان:(د-ژوا-کبن-د-ګان)اسم- جمع- د خدمت د پاره ساتل شوی بنديان- (افغانستان)-

دسپنه:(دس-په-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د اسپني يوه آله چې کلکاران يې د خښتو لګولو په کار کښې استعمالوی- (۲)کړی- حلقه- د ټوپک ليندی- د ټوپک کړی- (۳)ښپتی- (۴)د زرګرانو يوه آله-

د سپو خربړے:(د-سپو-خر-ېړے)اسم- واحد- مذکر- د خربړي يو قسم چې د خوراک نه وي-

دست:(دست)اسم- واحد- مذکر- د اسهال په وخت د عمل شمېر يا تعداد- (۲)اسهال- د نس ايله کېدنه- د نس جاري کېدنه- لۀ نسه کښېناستنه- ريشکے- پستکے- پرېړی- نری لوئ بول-

دستار:(دس-تار)اسم- واحد- مذکر- پټکے- پګړی- لونګی- پګړی- لنګوټه- لنګوټے- جمع دستارونه-

ګ:(ګس-رل)- ګ:(ګي-رو-ول)- ی:(ي-ا-لي)- ے:(تن-ډے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

دستاربندی:(دَس-تار-بَن-دي)اسم- واحد- مؤنث- دَ دستار تړلو دستوره- یو مشر، عالم یا صوفي سړی ته دستار تړنه- جمع دستاربندی-

دستانه:(دَس-تا-نه)اسم- واحد- مؤنث- په لاس دَ یخنۍ لهٔ کبله اچونکې پوشاک- دَ بخملی ټیک کولو په وخت لاس ته اچونکې پوشاک- دستکله- دسماغو- دسکبنه- لاسکله- لاس ماغو- لاس پېڅلے- جمع دستانې-

دستاوېز:(دَس-تا-وېز)اسم- واحد- مذکر- (۱)دلیل- مدرک- سند- (۲)هر هغه څهٔ چې په لاس کښې وي- (۲)وسیله- بهانه- پلمه- جمع دستاوېزونه-

دست بازی:(دَست-با-زي)اسم- واحد- مؤنث- لاس وهنه- ناوړه استفاده- بده استفاده- ناروا ګټه- خیانت- جمع دست بازی-

دست پاک:(دَست-پاک)اسم- واحد- مذکر- دسمال- دَ لاس دسمال- لاس وچونے- دَ لاس وچولو کپړه- (۲)هغه څوک چې دَ بل په ګټه استعمال شي- لاس پاکے- دَ خلقو دَ لاس اله-

دست په دست:(دست-په-دست)صفت- لاس په لاس- سمدستي- فوراً- زر-

دستخط:(دست-خط/دس-ته-خط)اسم- واحد- مذکر- یو نښه یا نوم چې دَ لیک یا سند په اخر کښې لیکلے شي- لاس لیک- قلمي- په لاس لیکلے-

دستخطي:(دست-خه-طي)اسم- واحد- مؤنث- لاس لیک کونه- دستخط کونه- دسخطي-

دسترخان:(دس-تر-خان)اسم- واحد- مذکر- وګوری: دسترخوان-

دسترخوان:(دَس-تر-خوان)اسم- واحد- مذکر- وړوکه څلورګټیزه وړه یا لویه کپړه چې روټۍ پرې خوړے شي- استرخان- دسترخان- کندورے- رومال- تیکرے-

دسترس:(دست-رس)اسم- واحد- مذکر- لاس لرنه- په یو کار یا موضوع کښې لازمه پوهه لرنه- په یوه چاره کښې مهارت-

دسترک:(دست-رک)اسم- واحد- مذکر- هغه دَ لرګی جوړه آله چې دول پرې غږولے شي- دَ ډول لوړے- دَ ډول لاړے- لوړ-

دَ سترګې ګل:(دَ ستر-ګې-ګل)اسم- واحد- مذکر- هغه خال (ګل) چې په سترګه کښې راوخیژي-

دست شوئ:(دَست-شوئ)اسم- واحد- مذکر- لګن- دوش- چیلمچے- دشوے- دوشوے- لاس لونے- ټوړے-

دستک:(دَس-تک)اسم صوت- (۱)دَ لاس ټپ- تاړې- (۲)ور یا تمبه ټپونه-

دستک:(دس-تک)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ راهداری پروانه یا پاسپورټ- (۲)دَ حساب کتاب روزنامچه- (۲)دستکے- هغه واړهٔ لرګی چې په چت کښې لګولے شي- لاړے-

دستکاری:(دست-کا-ري)اسم- واحد- مؤنث- په لاس منقش څیزونو جوړونه- دَ لاس کار- کاریګری- استاذی-

دست کش:(دَست-کش)اسم- واحد- مذکر- (۱)وګوری: دستانه- (۲)لاس راکښونکے-

دستکښه:(دست-کښ-به)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: دستانه-

دستکول:(دست-کول)اسم- واحد- مذکر- دَ فېشن دَ څیزونو، روپو او داسې نورو شیانو دَ ساتلو دَ څرمنې یا پلاسټک څخه جوړه بټوه چې عموماً ښځې یې څان سره ګرځوي-

دستکی:(دَس-ته-کي)اسم- جمع- مذکر- (۱)دَ څاروی دَ کټې دواړو څواو ته لګېدلي دَ نیم میټر په اندازه واړه لرګی- (۲)پورې کښې لګېدلي لرګی-

دستکی:(دس-ته-کي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- یو قسم پوړی- دستکے-

دستکے:(دس-ته-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)وګوری: اړکے- (۲)لاسکے- لاستے- موټے-

دستکے:(دس-ته-کے)اسم- واحد- مذکر- اوږده د لاس روټۍ چې په تنور پخولے شي- د لاس پوړی- دستکی-

دستګاه:(دست-ګاه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)هغه ځاۍ چې مختلف قسمه الات پکښې جوړولے شي- کارخانه- (۲)توان- وس- قدرت- (۲)پرتم- (۴)پانګه- شتهٔ- (۵)دَ موسیقۍ یو بشپړ آهنګ-

دستکله:(دَست-که-له)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: دستانه-

دست ګیر:(دَست-ګیر)صفت- مذکر- (۱)نیولے- ګرفتار- (۲)مرستیال- مددګار- لاس نیونکے-

دستګیری:(دست-ګی-ري)اسم- واحد- مؤنث- مرسته- امداد-

دست لاپ:(دست-لاپ)اسم- واحد- مذکر- وګوری: دسلاپ-

دستمال:(دَست-مال)اسم- واحد- مذکر- دسمل- رومال- جمع دسمالونه-

دستماله:(دَست-ما-له)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: دستانه-

دستمایه:(دَست-ما-یه)اسم- واحد- مؤنث- دَ پال او سپر دَ لاس نیولو ځاۍ او تسمه- دَ سپر او پال موټی او پټی- دَ پال یا دَ کنګل موټے-

دستمبول:(دس-تم-بول)اسم- واحد- مذکر- پرپېو- پیستمبول- دَ ورکوټې حټکی په شان یوه خوشبویه مېوه-

دستور:(دس-تُور)اسم- واحد- مذکر- (۱)رسم- رواج- (۲)قانون- قاعده- لاره- طریقه- فرمان- امر- (۲)رخصت- اجازه- (۴)هدایت- لارښودنه- جمع دستورونه-

دستورالعمل:(دَس-تُو-رل-عمَل)اسم- (۱)هدایت- لار ښودنه- نصیحت- (۲)مراسم- (۲)قانون- قاعده- رواج- طریقه- اصول-

دستورساز:(دَس-تُور-ساز)صفت- مذکر- دستور جوړونکے- ائین ساز-

دستورسازی:(دَس-تُور-سا-زي)اسم- واحد- مؤنث- ائین سازی- دستور جوړونه-

دستوره:(دس-تُو-ره)اسم- واحد- مؤنث- دستور- طریقه- قاعده- دود- جمع دستورې-

دستوری:(دس-تو-ري)اسم- واحد- مذکر- ګټه- شکرانه-

دستوری:(دس-تو-ري)اسم صفت- په دستور پورې مربوط- دَ دستور- دَ وظیفې لهٔ مخې- دَ هدایت په اساس- رواجي-

دستونه:(دس-تُو-نه)اسم- جمع- مذکر- دَ دست جمع- وګوری: څپاړه-

د ستوني ول:(د-ستو-ني-ول)اسم- واحد- مذکر- غرې- غېغب-
دسته:(دس-ته)اسم- واحد- مؤنث- (۱)لاسکے- لاستې- (۲)ګلدسته- ګېډۍ- بنډل- کوډه- (۳)مقدار- (۴)مرسته- (۵)ډله- ګروپ- ټولے- (۶)د سپنسو یا رېښمو ګنجي- (۷)دوه درجنه- ۲۴ کاغذونه- جمع دستې-
دسته بندي:(دس-ته-بن-دي)اسم- واحد- مؤنث- په ګروپ ګروپ یا پلو وېشنه- پله پله کونه- ګروپ بندي- صف بندي-
دستي:(دس-تي)صفت- (۱)وس- سمدستي- سم لاسي- فوراً- ژر په ژر- سم د لاسه- (۲)د لاس-
دستي بم:(دس-تي-بم)اسم- واحد- مذکر- یو وړوکے بم چې په مخالف د نژدې نه ورغورزولے شي- ګرنېټ-
دستي په دستي:(دس-تي-په-دس-تي)صفت- فوراً- بې ځیله- بې له ځنډه- ژر تر ژره- سم د لاسه- (افغانستان)-
د سحر سترګه:(د-سحر-ستر-ګه)اسم- واحد- مؤنث- هغه غټ پرتېدونکے ستورے چې د شپې په اخرې پار کښې په اسمان ښکاري- رڼه سترګه- د سبا سترګه-
دسخط:(دس-خط)اسم- واحد- مذکر- وګورئ دستخط-
دسخطي:(دس-خه-طي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ دستخطي-
دسره:(دسه-ره)متعلق فعل- (۱)بالکل- بېخي- قطعاً- هډو- (۲)اختم- پای- اخر- (افغانستان)-
دسکړه:(دس-که-ړه)اسم- واحد- مؤنث- دستکړه- کړه- د لاس اچولو یا په مټ کولو یو کالے-
دسکښه:(دس-که-ښه)اسم- واحد- مؤنث- دست کش- لاس وېلے- پلاسټک- دسکله- لاسکله- دستانه- دسماغو-
دسکله:(دس-که-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ دستانه-
دسلاپ:(دس-لاپ)اسم- واحد- مذکر- بوڼۍ- د سودا شروع- د وړومبي خرڅ پېسې- د دوکان د خلاصولو نه وروستو هغه وړومبۍ پېسې چې خرڅونکي ې د راتیونکي نه د جنس په مقابله کښې اخلي-
دسماغو:(دس-ما-غو)اسم- واحد- مذکر- وګورئ دسکښه-
دسمال:(دس-مال)اسم- واحد- مذکر- رومال- رومیال- څهوټے- هغه ټوټه چې سر پورې تړلے شي- هغه ټوټه چې مخ لاسونه پرې وچولے شي-
دسماله:(دس-ما-له)اسم- واحد- مؤنث- هغه ملهم یا پهه چې په پرهر کېښوے شي-
دسمبر:(د-سم-بر)اسم- واحد- مذکر- د نومبر او جنورۍ تر منځ میاشت- د عیسوي کال دولسمه میاشت-
دسمول:(دس-مول)اسم- واحد- مذکر- دسمال- دستمال- دوسمال- لاس پاکے- رومال- تولیه- جمع دسمولونه-
دس نمبرے:(دس-نم-به-رے)صفت- نمبر دس- بدمعاش- وران کارے-
دسون:(د-سون)اسم- دسوو- بالڼ- سوونې- خشاک-

د سوي خټکے:(د-سوي-خه-ټه-کے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم جیلغ لرونکے بوټے چې د ګیلاس د دانې په اندازه د خټکي په شان مېوه کوي- (افغانستان)-
دسهره:(د-سه-ره)اسم- واحد- مؤنث- د هندوانو یوه مذهبي دستوره چې د اسو په لسمه نېټه کوي-
دسیسه:(د-سي-سه)اسم- واحد- مؤنث- لاتجه- حیله- اسباب سازي- دروهه- چلوټه- پټ چل- مکر- سوړه-
دسي:(د-سي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- یو قسم لوبه چې د زمري د لوبې په شان په کېټو کولے شي-
دش:(دش)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پېش- (افغانستان)-
دشت:(دشت)اسم- واحد- مذکر- دښت- صحرا- بیدیا- دښته- مېره-
دشته:(دش-ته)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ دشت-
د شکاڼه سترګه:(د-شکا-ڼه-ستر-ګه)اسم- واحد- مؤنث- د یو روڼ ستوري نوم چې د سحر سترګې نومې ستوري نه مخکښې راخېژي-
دشکه:(دشه-که)اسم- واحد- مؤنث- یوه اتشي اسلحه-
دشلمه:(دش-له-مه)اسم- واحد- مؤنث- هغه خواږه یا شیریني چې د چاښو سره خوړلے شي-
دشمن:(دش-من)اسم- واحد- مذکر- وګورئ دښمن-
دشمندار:(دش-من-دار)صفت- مذکر- وګورئ دښمندار-
دشمنداري:(دش-من-دا-ري)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ دښمنداري-
دشمني:(دش-مه-ني)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ دښمني- جمع دشمنۍ-
دشنام:(دش-نام)اسم- واحد- مذکر- ښکنځل- کنځل- بدرد- زیږې- سپورې سټفې- (م- فارسي)-
دشنبه:(د-شم-به)اسم- واحد- مؤنث- د ګل ورځ- دوشنبه- ګل- سوموار- پیر-
دشوي:(د-شوي)اسم- واحد- مذکر- چلمچي- دستشوي- دوشے- لګن- لاس ریځونے- هغه لوښے چې لاسونه پکښې وینځلے شي-
دښت:(دښت)اسم- واحد- مذکر- وګورئ دشت-
دښته:(دښ-ته)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ دشت-
دښکو:(دښ-کو)اسم- واحد- مذکر- د یوې مرغۍ نوم- شیشړ- چوړوه- بټخک-
دښمن:(دښ-من)اسم- واحد- مذکر- دشمن- مېرځے- غلیم- بدخواه- ښمنو- خصم- د دوست ضد-
دښمندار:(دښ-من-دار)صفت- هغه څوک چې دشمني لري- دشمن دار- توره دار-
دښمنداري:(دښ-من-دا-ري)اسم- واحد- مؤنث- دشمني- تربګني- دښمني-
دښمني:(دښ-مه-ني)اسم- واحد- مؤنث- دشمني- بدي- غلیمي- رټي- عداوت- غږ- بدخواهي- کینه- ټکه- جمع دښمنۍ-
دښمنېدل:(دښ-مه-نې-دل)مصدر لازم- مخالف کېدل- غلیم کېدل- بدبدل-

www.pukhto.net

ورانېدل- رټېدل-

دښمنېدل:(دُښ-مَه-نې-دَل)حاصل مصدر- وګورئ دښمنېدل-

دښمنېدنګ (دُښ-مَه-نې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ دښمنېدل-

دښمنېدنه:(دُښ-مَه-نې-دَه-نه)حاصل مصدر- وګورئ دښمنېدل-

دښمنېدونکے:(دُښ-مَه-نې-دُون-کے)اسم فاعل/صفت- واحد- مذکر- وګورئ دښمنېدل-

دښمنېده:(دُښ-مَه-نې-دَه)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ دښمنېدل-

دښن:(دَ-ښَن)اسم- واحد- مذکر- وګورئ دښمن-

دښنو:(دُښ-نو)اسم- واحد- مذکر- وګورئ دښمن-

دښنه:(دُښ-نَه)اسم- واحد- مذکر- دښمن- دشمن-

دښنه:(دُښ-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ دښمنی-

دښنی:(دښ-نی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ دښمنی-

دعا:(دُ-عا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)رواء عبښته- حاجت غښتنه- (۲)فاتحه- د مغفرت غښتنه- پاتاء- (م- عربي)-

دعا سلام:(دُ-عا-سه-لام)اسم مرکب- علیک سلیک- راشه برشه- دوستي- اشنائي- ملګرتیا- ناسته پاسته- تلهٔ راتلهٔ- ګپ شپ- (م- عربي)-

دعاګو:(دُ-عا-ګو)صفت- وګورئ دعاګوی-

دعاګوی:(دُ-عا-ګوی)صفت- (۱)دعا کونکے- خیر غوښتونکے- خواست کونکے- دعاګو- (۲)زوی، لور، نمسے، کړوسے او نور داسې نژدې خپلوان-

دعائي خیر:(دُ-عا-ئي-خیر)اسم- واحد- مؤنث- دَ خیر دعاء- ښهٔ دعاء- دَ یوې جرګې یا غونډې د ختمېدو نه وړاندې پهٔ شریکه دعاء- دَ کار دَ شروع کولو پهٔ سر کښې دعاء-

دعوا:(دَع-وا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ دعویٰ-

دعوت:(دَع-وَت)اسم- واحد- مذکر- (۱)بلنه- رابلنه- راغښتنه- (۲)مېلمستیا- ولمستیا-

دعوت نامه:(دَع-وَت-نا-مه)اسم- واحد- مؤنث- دَ بلنې رقعه- د بلنې کارډ- بلن لیک-

دعوتی:(دَع-وَه-تي)صفت- پهٔ دعوت راغلے- رابللے شوے-

دعوه:(دَع-وَه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ دعویٰ-

دعویٰ:(دَع-وا)اسم- واحد- مؤنث- دعوا- دعوه- داوه- لانجه- شخړه- دنګله- ونګاله- حکړه-

دعویٰ ګیر:(دَع-وا-ګیر)صفت- وګورئ دعوېدار-

دعویٰ ګیری:(دَع-وا-ګی-ري)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ دعوېداري-

دعوېدار:(دَع-وې-دار)صفت- دعویٰ لرونکے- دعویٰ کونکے- دعویٰ ګیر- دعویٰ ګر- مدعي-

دعوېداري:(دَع-وې-دا-ري)اسم- واحد- مؤنث- دعویٰ لرنه- دعویٰ ګیري-

دغا:(دَ-غا)اسم- واحد- مؤنث- ټګي- چل- چم- دروهه- مکر- حیله- غولونه-

دغاباز:(دَ-غا-باز)صفت- دوکه باز- دوکه مار- ټګ- چلولي- درغل- فریبي-

دغابازي:(دَ-غا-با-زي)اسم- واحد- مؤنث- دَ دغاباز کار او پېشه-

دغخے:(دَغ-خے)اسم- واحد- مذکر- وچ لاس- ګوډ لاس- دَ فالج لاس- شل لاس- معذور لاس-

دغدغه:(دَغ-دَه-غه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وېره- ډار- ترهه- تشویش- بېره- تراره- (۲)هنګامه- انګازه- اوازه- (۳)تخنونه- تخڼے- (۴)تخت- پلاز- ګدي-

دغدغے:(دَغ-دَه-غے)صفت- مذکر- دوکه مار- ټګ برګ- ټګمار- ټګي کونکے- چمباز- غولونکے- فرېب ګر- فرېب کار- دغدوعے-

دغ دوبیره:(دَغ-دوب-ړه)صفت- وګورئ دړدوبړه-

پے:(پے)اسم- دَ تنستې هغه لرکے چې دَ دوو دوهاخو پهٔ سر اېښودے شوے وی او دَ تنستې دَ تارونو ارتباط ساتی- (۲)اتېندی- کونډی- کچی- چلی- (افغانستان)-

ذ:(ذال)حرف- د پښتو د حروف تهجي د پټي پينځلسم حرف چي د ابجدو په حساب ئې اعداد اووه سوه (۷۰۰) مقرر دي- (م- عربي)-

ذات:(ذات)اسم- واحد- مذکر- (۱)وجود- جوهر- حقيقت- اصليت- (۲)نسل- قام- قوم- (۳)قسم- (۴)ځان- جمع ذاتونه- (م- عربي)-

ذاتوره:(ذا-تُو-ره)اسم- واحد- مؤنث- د "ذاتوره" بل قرأت- (افغانستان)-

ذاتي:(ذا-تي)صفت- ځپل- حقيقي- کورنې- (م- عربي)-

ذاتيات:(ذا-تي-يات)اسم- دشمني- تربګني- ناکلي- زړه بداوې- (م- عربي)-

ذاد:(ذاد)اسم- ذات- اصل نسل- رګ ريښه- نوعې-

ذاکر:(ذا-کر)اسم- واحد- مذکر- (۱)ذکر کونکے- (۲)د شيعه فرقې واعظ- جمع ذاکران- (م- عربي)-

ذاکره:(ذا-کره)اسم- واحد- مؤنث- د "ذاکر" مؤنث- وګورئ ذاکر-

ذائقه:(ذا-ئِ-قه)اسم- واحد- مؤنث- خوند- مزه- لذت- جمع ذائقې- (م- فارسي)-

ذائقه دار:(ذائِ-قه-دار)صفت- مذکر- خوندور- مزېدار- خوندناک- (م- فارسي)-

ذبح:(ذَ-بَح)اسم- (۱)حلاله- حلالونه- الالونه- سر پرېکونه- (۲)نفس ذليلونه- نفس تر پښو لاندې کونه- (م- عربي)-

ذبحه:(ذَب-حه)اسم- حلاله- حلالونه- مرۍ پرېکونه- (م- عربي)-

ذبيح:(ذَ-بيح)اسم صفت- ذبح کړے شوے- حلال شوے- د قرباني د پاره غوره کړے شوے ځاروے- (م- عربي)-

ذبيح الله:(ذَ-بي-حُل-لا)اسم- د حضرت اسماعيل عليه السلام لقب- (م- عربي)-

ذبيحه:(ذَ-بي-حه)اسم- واحد- مؤنث- د قربانۍ ځناور- په شرعي طور حلال کړے شوے ځناور- جمع ذبيحې-

ذت:(ذَت)اسم- زور- طاقت- توان-

ذخيره:(ذَ-خي-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ګودام- (۲)پنګه- جمع کړے دولت- جمع- (۳)بوزغلے- جمع ذخيرې-

ذخيره اندوز:(ذَ-خي-ره-اَن-دوز)اسم صفت- ذخيره کونکے- جمع کونکے- ګودام پکونکے-

ذخيره اندوزي:(ذَ-خي-ره-اَن-دوزي)اسم- مؤنث- د ذخيره اندوز کار- (م- فارسي)-

ذده:(ذَ-ده)صفت- ضعيف- کمزورے-

ذديا:(ذد-يا)اسم- قصداً- په ضد-

ذراع:(ذِ-راع)اسم- واحد- مذکر- (۱)لېچ- لېچه- د څنګلي د سر نه د لاس د مينځنۍ ګوتې د څوکې پورې اندازه- (۲)ګهه- د ګوتو منځنۍ اندازه- خورې ګټې- (م- عربي)-

ذره:(ذَ-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ورانګه- رچه- (۲)لږ څيز- پوټے- (۳)بسمه- (۴)د مادې پېره وړه ټوټه- جمع ذرې-

ذره بين:(ذَ-ره-بين)اسم- هغه وړې عدسي چي په واړه واړه څيزونه وربانديې لېدلے کيږي- مائيکرو سکوپ- هغه اله چي ذره ذره څيزونه پرې ليدے شي-

ذره ذره:(ذَ-رہ-ذَ-ره)صفت- مرکب- پوټے پوټے- ټول- کلهم- تمام- ټوټه ټوټه- ټيکه ټيکه-

ذُريت:(ذُ-ري-يت/ذُر-ري-يت)اسم- نسل- اولاد- (م- عربي)-

ذريعه:(ذَ-ري-عه)اسم- واحد- مؤنث- وسيله- موقعه- واسطه- د مخه- وساطت- جمع ذريعې-

ذقن:(ذَ-قن)اسم- زنه- (م- عربي)-

ذقوم:(ذَ-قوم)اسم- د زقم بل قرأت- يو تريخ بوټے- (م- عربي)-

ذکا:(ذَ-کا)اسم- هوښ- خوره- نيا- ذکاوت- پوهه- زيرکي-

ذکاوت:(ذَ-کا-وَت)اسم- وګورئ ذکا-

ذکر:(ذِکر/ذِکر)اسم- واحد- مذکر- ياد- خبره- بيان- جمع ذکرونه- (م- عربي)-

ذکو:(ذَ-کو)اسم صفت- مذکر- ذهين- هوښيار- تېزفهم- (م- عربي)-

ذکر:(ذَ-کَر)اسم- مذکر- آلۀ تناسل- غين- غين- غڼ- آلت- د نارينه د وړو بولو اندام- (م- عربي)-

دکري:(ذِ-کري)اسم- ذکر کونکے- ذاکر-

ذکريا:(ذَ-کري-يا)اسم- ذکريا عليه السلام- د مشهور پيغمبر نوم چي قرآن کښې ئې پېر ذکر راغلے دے-

ذکي:(ذَ-کي)اسم صفت- زيرک- تېزفکره- هُبيار- هوښيار- استعداد لرونکے- زيلرس- د ذکا يا ذکاوت خاوند-

ذل:(ذل)اسم- نرمي-

ذلالت:(ذَ-لا-لت)اسم- توهين- سپکاوے- بې عزتي- کمينه توب- (م- عربي)-

ذلت:(ذل-لت)اسم- ذليل توب- سپکاوے- بې عزتي-

ذلذل:(ذل-ذل)اسم- رچېدنه- لړزېدنه- (م- عربي)-

ذلوچه:(ذَ-لو-چه)اسم- واحد- مؤنث- قالين- غاليچه- جمع ذلوچې- (افغانستان)-

ذليل:(ذَ-ليل)اسم صفت- واحد/جمع- مذکر- سپک- رذيل- کمينه- مؤنث ذليله- جمع مؤنث ذليلې-

ذليل توب:(ذَ-ليل-توب)اسم- مذکر- ذليل تيا- ذليل والے- سپکاوے- کمينه توب-

ذليل والے:(ذَ-ليل-وا-لے)اسم- مذکر- وګورئ ذليل توب-

ذليلول:(ذَ-لي-لَ-وَل)مصدر متعدي- سپکول- بد بد رټل- بې عزته کول-

ذليلون:(ذَ-لي-لَ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ ذليلول-

ذليلونکے:(ذَ-لي-لَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ذليلونکي- مؤنث ذليلونکې- وګورئ ذليلول-

ذليلونګ:(ذَ-لي-لَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ذليلول-

www pukhto net

ذليلونه:(ذَ-لي-لَ-ومَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ ذليلول-

ذليلېدل:(ذَ-لي-لې-دَل)مصدرِ لازم- سپکېدل- بې عزته کېدل- بد بد ريټلے کېدل-

ذليلېدن:(ذَ-لي-لې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ ذليلېدل-

ذليلېدنګ:(ذَ-لي-لې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ ذليلېدل-

ذليلېدنه:(ذَ-لي-لې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ ذليلېدل-

ذليلېدونکے:(ذَ-لي-لې-دُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع ذليلېدونکي- مؤنث ذليلېدونکې- وګورئ ذليلېدل-

ذليلېدهٔ:(ذَ-لي-لې-دهٔ)حاصلِ مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ ذليلېدل-

ذم:(ذم)اسم- (۱)عيب- غندنه- بد وئينه- هجو- سپکاوے- (۲)هپوسه- (م- عربي)-

ذمه:(ذِ-مه/ذم-مه)اسم- واحد- مؤنث- ديمه- وعده- قول- لوظ- په سر اخستنه- (م- عربي)-

ذمه دار:(ذِ-مه-دار)اسم صفت- مذکر- (۱)ذمه وار- ذيمه وار- ضامن- جواب ورکونکے- (۲)معتبر- پوخ- مؤنث ذمه داره- جمع مؤنث ذمه دارې-

ذمه داري:(ذِ-مه-دا-ري)اسم- واحد- مؤنث- د ذمه دار جوړېدو حالت-

ذمه وار:(ذِ-مه-وار)اسم صفت- مذکر- وګورئ ذمه دار-

ذمه واري:(ذِ-مه-وا-ري)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ذمه داري-

ذمي:(ذِمي/ذِم-مي)اسم- (۱)هغه څهٔ چې د چا په ذمه وي- (۲)هر هغه څوک چې د مسلمانانو د ساتنې او پام لرنې تر سيورې لاندې وي- (م- عربي)-

ذميمه:(ذَ-مي-مه)اسم- قابلِ نفرت کار- د ګناه کار- ګناه- خراب کار- د "حميده" متضاد- (م- عربي)-

ذو:(ذُو)سابقه- هغه لاحقه چې د مرکبې کلمې په وړومبي حصه کښې راځي لکه ذوالجلال- (م- عربي)-

ذواضعاف اقل:(ذو-اَض-عا-ف-اَ-قَل)اسم- لږ وړوکي نه وړوکے هغه عدد چې په يو څو اعدادو پوره پوره تقسيم شي- دا په حساب کښې پکارېږي-

ذوالجلال:(ذُول-جَ-لال)اسم صفت- د جلال خاوند- د الله تعالٰی صفتي نوم- (م- عربي)-

ذوالجناح:(ذُول-جَ-ناح)اسم- د وزرونو خاوند- د حضرت امام حسين عليه السلام د آس نوم-

ذوالحجه:(ذُول-حِ-جه)اسم- واحد- مؤنث- د حج مياشت- د لوئ اختر مياشت- د قمري کال دولسمه مياشت، چې د ذوالقعدې څخه وروستو او د محرمې څخه د مخه راځي-

ذوالفقار:(ذُول-فَ-قار)اسم صفت- د حضرت علي عليه السلام د توري نوم-

ذوالقافيتين:(ذُول-قا-في-يه-تين)اسم صفت- دوه قافيې لرونکے-

ذوالقرنين:(ذُول-قَر-نين)اسم صفت- (۱)د دوؤ ښکرونو خاوند- (۲)د سلطان سکندر د صفتونو څخه يو صفت- (۳)د دهٔ نه علاوه يو څو نور هم په دغه نامه يادېږي- (۴)ځنې مسلمانان حضرت علي عليه السلام هم د ذوالقرنين په نامه يادوي-

ذوالقعده:(ذُول-قع-ده)اسم- ذي قعده- د هجري کال يوولسمه مياشت-

ذوالمنن:(ذُول-مِ-نَن)اسم صفت- (۱)د احسانونو خاوند- د منتونو خاوند- د لوئ ښېګڼې خاوند- (۲)د الله تعالٰی صفتي نوم-

ذوالنورين:(ذُون-نُو-رين)اسم صفت- د دوؤ نورونو خاوند- د حضرت عثمان رضی الله عنه لقب-

ذواليد:(ذُول-يَد)صفت- هغه څوک چې يو مال ته تصرف کښې وي، دغهٔ تصرف که مالکانه وي او که غيرمالکانه او که قانوني وي که غير قانوني-

ذوب:(ذوب)اسم- (۱)اوبهٔ کونه- اوبونه- ويلې کونه- (۲)سره ايله کېدنه لکه هغوړي چې د تودوخې په اثر سره ايله کيږي-

ذوبان:(ذو-بان)اسم- ويليدنه- اوبهٔ کېدنه- سره ايله کېدنه-

ذوبحرين:(ذو-بَح-رَين)اسم- هغه شعر چې د عروضي بحرونو په دوؤ بحرو کښې ونيلے کېدے شي-

ذوحسنين:(ذو-حُس-نين)اسم صفت- هغه ګلونه چې ماريينه او ښځينه تخمونه لري-

ذوحياتين:(ذو-حه-يا-تَين)اسم صفت- هغه ځناور چې په لونده او وچه دواړو ساندې ژوند تېروي-

ذوذنقه:(ذُو-ذَن-قه)اسم- هغه څلور ضلعي شکل چې يوازې دوه ضلعې يې يو د بل سره متوازي کوي- (م- عربي)-

ذوق:(ذوق)اسم- واحد- مذکر- شوق- لطف- مزه- خوند- (م- عربي)-

ذوقافيتين:(ذو-قا-في-يه-تين)اسم صفت- وګورئ ذوالقافيتين-

ذوق سليم:(ذوق-سه-ليم)اسم- مذکر- د يو څيز نه د لطف اخستو يا پېرې حيله پوهېدو يا پېرې بل څوک پوهولو صحيح ملکه- ښهٔ ذوق-

ذوقمن:(ذوق-مَن)اسم صفت- واحد- مذکر- ذوقي- شوقمن- د ذوق او سليقې خاوند-

ذوقي:(ذو-قي)اسم صفت- وګورئ ذوقمن- (م- عربي)-

ذولسانين:(ذُول-سا-نَين)اسم صفت- هغه شعر چې په دوؤ ژبو ونيلے کيږي-

ذومعنى:(ذو-مَع-نى)اسم صفت- دوه معنيز- ګنې معنې لرونکې خبره- (م- عربي)-

ذووجهين:(ذُو-وَج-هَين)اسم صفت- هغه ادبي صنعت چې د يو نظم يا نثر په کلمو کښې د دوؤ متقابلو معنو احتمال موجود وي- (م- عربي)-

ذهانت:(ذَ-ها-نت)اسم- زيرکي- هښيارتيا- هوښيارتيا- د ذهن تېزوالے- (م- عربي)-

ذهن:(ذهن/ذِهن)اسم- واحد- مذکر- پوهه- خيال- فکر- جمع ذهنونه-

ذهن نشين:(ذِهن-نَ-شين)اسم مرکب- ياد- په مغزو کښې ناست- (م- عربي)-

ذهني:(ذِه-ني)صفت- د ذهن سره متعلق- عقلي- خيالي- دماغي-

ذهنيت:(ذِه-ني-يت)اسم- (۱)فکر- نظر- عقيده- د تفکر طرز- (۲)د ذهن نه

ئ" (څې-رل)، ئ"(مې-رم-ول)، ی"(پيا-لي)، ے"(تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

اخستونکے کار- (م- عربی)-

ذمول:(ذُ-مُول)اسم- هېره- غفلت- د یاده وتنه- (م- عربی)-

ذهین:(ذ-هین)اسم صفت- پوه- زیرک- هوښیار- هُښیار- قابل- پوی- پوه-

ذهین توب:(ذ-هین-توب)اسم- ذهین تیا- زیرک والے- هوښیارتوب-

ذهین تیا:(ذ-هین-تیا)اسم- وګورئ ذهین توب-

ذی:(ذی)الاحقه- د مرکبو کلمو په سر کښې راځی او د خاوند معنٰی ورکوی- (م- عربی)-

ذی حق:(ذی-حق)اسم صفت- د حق خاوند- مستحق- حق لرونکے-

ذیابیطس:(ذ-یا-بی-طَس/طِس)اسم- مذکر- د شوګر مرض-

ذی الحج:(ذِل-حَج)اسم- د هجری کال دولسمه میاشت چې حج پکښې ادا کولے شی- (م- عربی)-

ذی روح:(ذی-رُوح)اسم صفت- ساکښ- د ارواه خاوند- روح لرونکے- (م- عربی)-

ذی قعده:(ذی-قَع-ده)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ذوالقعده-

ذیمه:(ذی-مه)اسم- واحد- مؤنث- د نمه یو بل قرات- وګورئ ذمه-

ذیل:(ذیل)اسم- (۱)لاندینی حصه- (۲)لمن-

ذیلدار:(ذیل-دار)اسم- یو سرکاری عهدېدار چې د نهرونو د اُبو د تقسیم مشر وی- (م- فارسی)-

www.pukhto.net

ر:(رې)حرف- د پښتو حروفِ تهجي شپاړسم، د فارسي او د اردو څوارلسم حرف چې د ابجد په حساب کښې (۲۰۰) اعداد لري-

را:(را)سابقه- (۱)د فعلونو سره د سابقې په طور راځي او د متکلم طرف ښائي لکه راکړه، راشه- (۲)د " راکړه " مخفّف لکه " دا کتاب را " -

رااچول:(را-اَ-چَول)مصدرِ متعدي- (۱)راغورځول- راښکل- يو شے چا ته يا بلکه خوا ته غورځول- (۲)رانسکورول- له مقامه يا قدر نه پرې ايستل-

رااخيستل:(را-اَ-خيس-تَل)مصدرِ متعدي- (۱)راخستل- راپورته کول- راجګول- رااوچتول- (۲)اخستل- اخيستل- رانيول- يو شے په بيه يا قيمت سره اخستل-

رااخيستن:(را-اَ-خيس-تَن)حاصلِ مصدر- وګورئ رااخيستل-

رااخيستنګ:(را-اَ-خيس-تَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رااخيستل-

رااخيستنه:(را-اَ-خيس-تَه-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ رااخيستل-

رااخيستونکے:(را-اَ-خيس-تُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع رااخيستونکي- مؤنث رااخيستونکې- وګورئ رااخيستل-

رااخيسته:(را-اَ-خيس-تَه)حاصلِ مصدر- وګورئ رااخيستل-

رااستول:(را-اَس-تَ-ول)مصدرِ متعدي- راستول- رالېږل-

رااستون:(را-اَس-تَ-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ رااستول-

رااستونکے:(را-اَس-تَ-ون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع رااستونکي- مؤنث رااستونکې- وګورئ رااستول-

رااستونه:(را-اس-ت-و-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ رااستول-

راايستل:(را-اِيس-تَل)مصدرِ متعدي- (۱)راباسل- راوکښل- راوباسل- راپورته کول- (۲)اختراع کول-

راايستلے:(را-اِيس-تَه-لے)اسمِ مفعول- واحد- مذکر- جمع راايستلي- مؤنث راايستلې- وګورئ راايستل-

راايستن:(را-اِيس-تَن)حاصلِ مصدر- وګورئ راايستل-

راايستنګ:(را-اِيس-تَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ راايستل-

راايستنه:(را-اِيس-تَه-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ راايستل-

راايستونکے:(را-اِيس-تُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع راايستونکي- مؤنث راايستونکې- وګورئ راايستل-

راايسته:(را-اِيس-تَه)متعلق فعل- ښيخوا- دې لورې ته- راديخوا- (۲)رانږدې-

راايسته کول:(را-اِيس-تَ-کَول)مصدرِ متعدي- (۱)راښيخوا کول- (۲)رانږدې کول- (۳)لرې کول- برطرفه کول- له مقامه يا قدرته غورځول-

راايسته:(را-اِيس-تَه)حاصلِ مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ راايستل-

رابرسيره:(را-بَر-سي-ره)اسم صفت- رابرڅېره- راښکاره- راڅرګند- ظاهر- (کول/کېدل مصدرونه)-

رابرغ:(را-بَرَغ)اسم صفت- راغبرګ- رابغرګ- راواپس- راستون- په بېرته راتلنه-

رابرغول:(را-بَره-غَول)مصدرِ متعدي- (۱)راغبرګول- دوه ته کول- (۲)راستول-

رابرغون:(را-بَره-غَون)حاصلِ مصدر- وګورئ رابرغول-

رابرغونکے:(را-بَره-غَوون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رابرغونکي- مؤنث رابرغونکې- وګورئ رابرغول-

رابرغونګ:(را-بَره-غَونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رابرغول-

رابرغونه:(را-بَره-غَو-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ رابرغول-

رابطه:(را-بِ-طه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)تعلق- ارتباط- اړه- اړيکه- (۲)قُرب- نږدېکت- رشته- جمع رابطې-

رابع:(را-بِع)اسم- څلورم- (م- عربي)-

رابلل:(را-ب-لل)مصدرِ متعدي- راغُښتل- رابولل- دعوتول- روبلل- ځان ته راغښتل- (افغانستان)-

رابللے:(را-بَ-لَه-لے)اسمِ مفعول- واحد- مذکر- جمع رابللي- مؤنث رابللې- وګورئ رابلل-

رابلن:(را-بَ-لَن)حاصلِ مصدر- وګورئ رابلل-

رابلنه:(را-بَ-لَه-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ رابلل-

رابلونکے:(را-بَ-لون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رابلونکي- مؤنث رابلونکې- وګورئ رابلل-

رابولل:(را-بو-لَل)مصدرِ متعدي- وګورئ رابلل- (افغانستان)-

رابيا:(را-بَيا)اسم- د اُبو لوئ مشک چې په آس يا خر باريږي او اُبۀ پکښې وړلے کيږي-

رابياکول:(را-بيا-کَول)مصدرِ متعدي- حاصلول-

رابياکونکے:(را-بيا-کَوون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رابياکونکي- مؤنث رابياکونکې- وګورئ رابياکول-

رابياکونه:(را-بيا-کَو-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ رابياکول-

رابېرته:(را-بېر-ته)متعلق فعل- (۱)راديخوا- رادې پلو- رادې لور- راځه ته- راوَرسته- دا کلمه د مخاطب د پاره راځي- (۲)راميسې- راميلې- راپۀ دې خوا- (۳)راخلاصونه- بېرته کونه- رالرې کونه-

رابيل:(را-بِيل)صفت- وګورئ رابېل (۲)-

رابېل:(را-بِيل)اسم- واحد- مذکر- رامبيل- يو زېړ رنګ لرونکے ګل- جمع رابېلونه-

رابېل:(را-بيل)صفت- راجدا- راګوښے- راالګ- رابيل-

راپ:(راپ)اسم- د اينجې په شان يو قسم بوټے چې زېړ ګل لري-

راپاتې:(را-پا-تې)اسم صفت- (۱)باقي- پاتې شوے- راپاتے- (۲)پاتې شوے- (۳)ميراث- په ميراث کښې وررپاتې شوے-

راپاڅول:(را-پا-څَول)مصدرِ متعدي- (۱)راجګول- راويښول- راپورته کول- (۲)تحريکول- لمسول-

راپاڅولے:(را-پا-څَو-لے)اسمِ مفعول- جمع راپاڅولي- مؤنث راپاڅولې-

وګورئ راپاڅول-

راپاځون:(را-پا-ځ-ون)حاصل مصدر- وګورئ راپاڅول-

راپاځونکے:(را-پا-ځ-وون-کے)اسم فاعل- جمع راپاځونکی- مؤنث راپاځونکې- وګورئ راپاڅول-

راپاځونه:(را-پا-ځ-وڼه)حاصل مصدر- وګورئ راپاڅول-

راپاڅېدل:(را-پا-څې-دل)مصدر لازم- (۱)راپورته کېدل- راجګېدل- راويښېدل- (۲)تحريکېدل- لمسېدل-

راپاڅېدلے:(را-پا-څې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع راپاڅېدلی- مؤنث راپاڅېدلې- وګورئ راپاڅېدل-

راپاڅېدن:(را-پا-څې-دن)حاصل مصدر- وګورئ راپاڅېدل-

راپاڅېدنګ:(را-پا-څې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ راپاڅېدل-

راپاڅېدنه:(را-پا-څې-دڼه)حاصل مصدر- وګورئ راپاڅېدل-

راپاڅېدونکے:(را-پا-څې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راپاڅېدونکی- مؤنث راپاڅېدونکې- وګورئ راپاڅېدل-

راپاڅېدۀ:(را-پا-څې-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ راپاڅېدل-

راپه‌ښخوا:(را-پۀ-دي-خوا)متعلق فعل- راميسې- راپښخوا- راپۀ دې خوا- راورسئو-

راپرخول:(را-پر-خ-ول)مصدر متعدي- (۱)پۀ زمکه راغرځول- پۀ کُشتۍ کښې شا لګول- ځملول- رانسکورول- (۲)مغلوبول- ماتې ورکول-

راپرخولے:(را-پر-خ-وڼلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع راپرخولی- مؤنث راپرخولې- وګورئ راپرخول-

راپرخون:(را-پر-خ-ون)حاصل مصدر- وګورئ راپرخول-

راپرخونکے:(را-پر-خ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راپرخونکی- مؤنث راپرخونکې- وګورئ راپرخول-

راپرخونه:(را-پر-خ-وڼه)حاصل مصدر- وګورئ راپرخول-

راپرخېدل:(را-پر-خې-دل)مصدر لازم- (۱)پۀ زمکه راغرځېدل- شا لګېدل- ځملاستل- رانسکورېدل- (۲)مغلوبېدل- ماتې خوړل-

راپرخېدلے:(را-پر-خې-دڼلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع راپرخېدلی- مؤنث راپرخېدلې- وګورئ راپرخېدل-

راپرخېدن:(را-پر-خې-دن)حاصل مصدر- وګورئ راپرخېدل-

راپرخېدنګ:(را-پر-خې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ راپرخېدل-

راپرخېدنه:(را-پر-خې-دڼه)حاصل مصدر- وګورئ راپرخېدل-

راپرخېدونکے:(را-پر-خې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راپرخېدونکی- مؤنث راپرخېدونکې- وګورئ راپرخېدل-

راپرخېدۀ:(را-پر-خې-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ راپرخېدل-

راپرېيستل:(را-پري-يس-تل)مصدر- راځملول- راغرځول- راپرخول- ځملول- پۀ غېږه کښې پۀ زمکه راګوزارول-

راپرېيستلے:(را-پري-يس-تڼلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع راپرېيستلی- مؤنث راپرېيستلې- وګورئ راپرېيستل-

راپرېيستنه:(را-پري-يس-تڼه)حاصل مصدر- وګورئ راپرېيستل-

راپرېيستونکے:(را-پري-يس-تون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راپرېيستونکی- مؤنث راپرېيستونکې- وګورئ راپرېيستل-

راپرېيستۀ:(را-پري-يس-تۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ راپرېيستل-

راپسې:(را-پ-سې)متعلق فعل- (۱)ترشا- راوروسته- راتر شا- راتر څټ- (۲)تعقيب- څارنه-

راپورته:(را-پور-ته)متعلق فعل- (۱)راجګ- راولاړ- (۲)تحريک شوے- لمسولے- (۳)مخاطب ته د امر پۀ توګه وئیلے شي-

راپورې:(را-پو-رې)متعلق فعل- (۱)راپاندې- (۲)دېخوا- دې غاړې- (۳)ترنه- ستړيدۀ- (۴- صفت)مدۀ- تړلې- (۵)پۀ ناروغۍ مبتلا- اخته- ګرفتار-

راپورې کول:(را-پو-رې-ک-ول)مصدر متعدي- (۱)راپورې ايستل- راپورې باسل- د سيند يا ولې نه راپورې باسل- (۲)متکلم تورن کول- (۳)متکلم پۀ مرض يا ناروغۍ اخته کول- (۴)تړل- بندول- کلکول-

راپورې کونکے:(را-پو-رې-ک-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راپورې کونکی- مؤنث راپورې کونکې- وګورئ راپورې کول-

راپورې کونه:(را-پو-رې-ک-وڼه)حاصل مصدر- وګورئ راپورې کول-

راپورې کېدل:(را-پو-رې-کې-دل)مصدر لازم- (۱)راپورې وتل- د سيند يا ولې نه راپورې باسلے کېدل- (۲)بندېدل- کلکېدل-

راپورې کېدنه:(را-پو-رې-کې-دڼه)حاصل مصدر- وګورئ راپورې کېدل-

راپورې کېدونکے:(را-پو-رې-کې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راپورې کېدونکی- مؤنث راپورې کېدونکې- وګورئ راپورې کېدل-

راپورې وتل:(را-پو-رې-و-تل)مصدر متعدي- د سيند يا درياب يا سرحدي ټک څخه دېخوا راورېدل يا راوښتل-

راپورې وتن:(را-پو-رې-و-تن)حاصل مصدر- وګورئ راپورې وتل-

راپورې وتنه:(را-پو-رې-و-تڼه)حاصل مصدر- وګورئ راپورې وتل-

راپورې وتونکے:(را-پو-رې-و-تون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راپورې وتونکی- مؤنث راپورې وتونکې- وګورئ راپورې وتل-

راپورې وتۀ:(را-پو-رې-و-تۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ راپورې وتل-

راپېردل:(را-پېر-دل)مصدر- رااخستل- راخستل- راتولول- (افغانستان)-

راپېرل:(را-پې-رل)مصدر- د يو شي رانيول- يو شے اخستل- (۲)د متکلم د پاره اتهېرے او پورے ازبدل يا جوړول-

راپېرلے:(را-پې-رڼلے)اسم مفعول- جمع راپېرلی- مؤنث راپېرلې- وګورئ پېرل-

www.pukhto.net

راپېرن:(را-پې-رن)حاصل مصدر- وګورئ راپېرل-
راپېرنه:(را-پې-رَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ راپېرل-
راپېرونکے (را-پې-رُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راپېرونکي- مؤنث راپېرونکې- وګورئ راپېرل-
راپېښېدل:(را-پې-ښې-دل)مصدر لازم- (۱)راپېدا کېدل- راواقع کېدل- (۲)اتفاقي راتلل او مخامخ کېدل- مخې ته راتلل-
راپېښېدن:(را-پې-ښې-دن)حاصل مصدر- وګورئ راپېښېدل-
راپېښېدنه:(را-پې-ښې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ راپېښېدل-
راپېښېدونکے:(را-پې-ښې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راپېښېدونکي- مؤنث راپېښېدونکې- وګورئ راپېښېدل-
راپېښېدۀ:(را-پې-ښې-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ راپېښېدل-
راتاږ:(را-تاږ)اسم صفت- راتاږ شوے- کوږ شوے-
راتاوول:(را-تا-وَ-ول)مصدر متعدي- راکړول- خپل ځان طرف ته راکړول-
راتاوون:(را-تا-وُ-ون)حاصل مصدر- وګورئ راتاوول-
راتاوونکے:(را-تا-وُ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راتاوونکي- مؤنث راتاوونکې- وګورئ راتاوول-
راتاوونګ:(را-تا-و-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ راتاوول-
راتاوونه:(را-تا-وَ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ راتاوول-
راتاوېدل:(را-تا-وې-دل)مصدر لازم- راکوږېدل- خپل ځان طرف ته کږېدل-
راتاوېدن (را-تا-وې-دن)حاصل مصدر- وګورئ راتاوېدل-
راتاوېدنګ:(را-تا-وې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ راتاوېدل-
راتاوېدنه (را-تا-وې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ راتاوېدل-
راتاوېدونکے (را-تا-وې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راتاوېدونکي- مؤنث راتاوېدونکې- وګورئ راتاوېدل-
راتاوېدۀ:(را-تا-وې-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ راتاوېدل-
راتب:(را-تب-تَب)اسم- (۱)تل- همېشه- دائم- ثابت- برقرار- (۲)معاش- خيره- (۳)وظيفه- (۴)دَ يو ځناور دَ يوې ورځې خوراکه-
راتب خور:(را-تب-خور)اسم صفت- راتب خوړونکے- تياره خوړونکے-
راتړل:(را-تړل)مصدر- (۱)رابندول- په څۀ پورې لګول- (۲)راپابندول- (۳)بيايل- ځان طرف ته راوستل- (حاصل کړ ابۀ)- (۴)اسپه په ټانګه کښې جوت کول-
راتړلے:(را-ت-ړَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع راتړلي- مؤنث راتړلې- وګورئ راتړل-
راتړن:(را-ت-ړن)حاصل مصدر- وګورئ راتړل-
راتړنه:(را-ت-ړَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ راتړل-
راتړونکے:(را-ت-ړُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راتړونکي- مؤنث راتړونکې- وګورئ راتړل-
راتک:(را-تک)اسم- راتلنه- دَ ورتګ مقابل-
راتګې:(را-تګې)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ راتختګې- (عاميانه)-
راتلل:(را-تلل)مصدر- راتګ کول- دَ تلل مقابل- لۀ بله ځايه دېخوا راتګ کول-
راتللے:(را-تل-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع راتللي- مؤنث راتللې- وګورئ راتلل-
راتلن:(را-تلن)حاصل مصدر- وګورئ راتلل-
راتلنګ:(را-تلنګ)حاصل مصدر- وګورئ راتلل-
راتلنه:(را-تل-نه)حاصل مصدر- وګورئ راتلل-
راتلونکے:(را-تلُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راتلونکي- مؤنث راتلونکې- وګورئ راتلل-
راتلونے:(را-تلو-نے)اسم فاعل- (۱)وګورئ راتلل- (۲)اتنده- مستقبل-
راتلۀ:(را-تلۀ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ راتلل-
راتوېدل:(را-تو-يې-دل)مصدر لازم- (۱)لۀ لوړه ځايه دَ يو شي راغورځېدل- (۲)رابنکته کېدل- اَد مايعاتو او پاڼو وغيره)-
راتوېدن:(را-تو-يې-دن)حاصل مصدر- وګورئ راتوېدل-
راتوېدنه:(را-تو-يې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ راتوېدل-
راتوېدونکے:(را-تو-يې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راتوېدونکي- مؤنث راتوېدونکې- وګورئ راتوېدل-
راتوېدۀ:(را-تو-يې-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ راتوېدل-
راته:(را-ته)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ راختمه- (عاميانه)-
راټول:(را-ټول)صفت- غونډ- سره يوځاے- يوځاې- ګډ- ګرد- جمع-
راټولوالے:(را-ټول-وا-لے)اسم- راغونډوالے- رايوځاې والے- ګډوالے-
راټولول:(را-ټو-ل-ول)مصدر- راغونډول- رايوځاې کول- راجمع کول- يو لاس کول-
راټولېدل:(را-ټو-لې-دل)مصدر- يوځاې راغونډېدل-
راټولېدنه:(را-ټو-لې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ راټولېدل-
راټولېدۀ:(را-ټو-لې-دۀ)حاصل مصدر او ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ راټولېدل-
راتيټول:(را-تي-ټ-ول)مصدر متعدي- (۱)ځان طرف ته ټيټول- (۲)څوک لۀ ضد نه اړول- (۳)څوک خپل لاس ته کښېنول-
راتيټونکے:(را-تي-ټ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راتيټونکي- مؤنث راتيټونکې- وګورئ راتيټول-
راتيټونه:(را-تي-ټ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ راتيټول-
راتيټېدل:(را-تي-ټې-دل)مصدر لازم- (۱)راخمېدل- (۲)ځېله حبره پرېښول-

www.pukhto.net

راتیټېدن:[را-تي-ټې-دَن]حاصل مصدر- وګورئ راتیټېدل-

راتیټېدنه:[را-تي-ټې-دَ-نه]حاصل مصدر- وګورئ راتیټېدل-

راتیټېدونکے:[را-تي-ټې-دُون-کے]اسم فاعل- جمع راتیټېدونکي- مؤنث راتیټېدونکې- وګورئ راتیټېدل-

راتیټېده:[را-تي-ټې-دهٔ]حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ راتیټېدل-

راج:[راج]اسم- واحد- مذکر- (۱)حکومت- دور- واک- اختیار- بادشاهي- (۲)شتهٔ مني- ثروت- (۳)ګلکار- (کول مصدر)- جمع راجونه- (م- هندي)-

راجا:[را-جا]اسم- واحد- مذکر- راجه- (۱)هندوانو شهزادګانو ته ورکړے شوے لوئ لقب- (۲)حکمران- د یو ورکوټي ریاست بادشاه- (۳)شتهٔ من- موړ- مالدار- (۴)سخي- (۵)پرشریف- (۶)بې پروا- (۷)ساده-

راجاني:[را-جا-ني]صفت- تالانګر- غم پېښونکے-

راجع:[راجِع]اسم- (۱)ګرځېدونکے- (۲)ورګرځونه- ورګرځېده- ستنېده- (۳)حواله- مخامخ کونه- مخامخونه- پهٔ اوړه وراچونه- (۴)پهٔ باره کښې- پهٔ باب- (۵)هغه بخه چې مېړهٔ یې مړ شي او بېرته پلار کره لاړه شي-

راجع کول:[را-جع-کَول]مصدر متعدي- (۱)ورګرځول- ستنول- (۲)حواله کول- محول کول- پهٔ غاړه وراچول-

راجګ:[را-جګ]صفت- رالوڅت- راپورته- رلولې- رالګه- راتېغ- راپاړه-

راجګنه:[راج-ګَ-نه]اسم- واحد- مؤنث- راني- راجنه- دٔ راجه مؤنث- دٔ راجه مېرمن- هندوه- ینډوه- لیندواني- جمع راجګني-

راجګول:[را-جهٔ-ګَ-ول]مصدر متعدي- (۱)راوچتول- راپورته کول- لهٔ ښکته نه پاس خوا ته اوچتول- (۲)پهٔ پښو ودرول- راپاڅول- (۳)کول- نیغول- شخول- (۴)تحریکول- لمسول- راپارول- (۵)راچوخول- (ستن وغیره)-

راجګون:[را-جهٔ-ګَ-ون]حاصل مصدر- وګورئ راجګول-

راجګونکے:[را-جهٔ-ګَ-وون-کے]اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راجګونکي- مؤنث راجګونکې- وګورئ راجګول-

راجګونه:[را-جهٔ-ګَ-و-نه]حاصل مصدر- وګورئ راجګول-

راجګېدل:[را-جهٔ-ګې-دَل]مصدر لازم- (۱)لهٔ ښکته نه پورته راوچتېدل- (۲)پهٔ پښو ودرېدل- راپاڅېدل- (۳)کېدل- نیغېدل- (۴)راپارېدل- لمسېدل- (۵)راچوخېدل- (ستن وغیره)-

راجګېدن:[را-جهٔ-ګې-دَن]حاصل مصدر- وګورئ راجګېدل-

راجګېدنه:[را-جهٔ-ګې-دَ-نه]حاصل مصدر- وګورئ راجګېدل-

راخستل:[را-خس-تل]مصدر- رازغستل- رامنډې کول- پهٔ منډو منډو د ځان پله راتلل- (افغانستان)-

راخغلول:[را-خغ-ل-ول]مصدر- (۱)رازغلول- راپهٔ منډه کول- د ځان لورې ته پهٔ منډه منډه راوستل- (۲)پسې راخپستل- ملتې ورکول-

راچاپېر:[را-چا-پېر]صفت- راتاو- ګېر چاپېر- شا و خوا- ګرد یې ګوښه-

راچورلول:[را-چور-ل-ول]مصدر- راګرزول- چورلول- راګرځول- راتاوول- ځرخ ورکول-

راچوړول:[را-چو-ړ-ول]مصدر- راتوېول- راچپه کول- مایعات لهٔ پورته نه ښکته راتوېول-

راچوړېدل:[را-چو-ړې-دَل]مصدر- راتوېېدل- راپېدل- راچپه کېدل-

راچول:[را-چ-ول]مصدر متعدي- وګورئ رااچول-

راچون:[را-چ-ون]حاصل مصدر- وګورئ رااچول-

راچونکے:[را-چ-وون-کے]اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راچونکي- مؤنث راچونکې- وګورئ رااچول-

راچونګ:[را-چ-ونګ]حاصل مصدر- وګورئ رااچول-

راچونه:[را-چ-و-نه]حاصل مصدر- وګورئ رااچول-

راځغه:[را-ځ-غه]اسم- راسره- روسره- راشګه- راسکه-

راځکل:[راځ-کل]مصدر- راځکول- ځکول- راکشول- پهٔ زمکه یو شے خپل خوا ته راکښل-

راځکول:[راځ-ک-ول]مصدر- راځکل- ځکول- راکشول- د خپل ځان پهٔ لور راکښل-

راځکونه:[راځ-ک-و-نه]حاصل مصدر- وګورئ راځکول-

راځکونے:[راځ-کو-نے]اسم فاعل- (۱)وګورئ راځکول- (۲- اسم- واحد- مذکر)کوړے- جلو- واګې- جلب-

راځکېدل:[راځ-کې-دَل]مصدر لازم- وګورئ راځکل-

راځکېدن:[راځ-کې-دَن]حاصل مصدر- وګورئ راځکېدل-

راځکېدنه:[راځ-کې-دَ-نه]حاصل مصدر- وګورئ راځکېدل-

راځکېدونکے:[راځ-کې-دُون-کے]اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راځکېدونکي- مؤنث راځکېدونکې- وګورئ راځکېدل-

راح:[راح]اسم- (۱)خوشحال- خوښي- (۲)شراب- (م- عربي)-

راحت:[را-حت]اسم- واحد- مذکر- دمه- ارام- اسودګي- استراحت- خوشحالي- مسرت-

راحت طلب:[را-حَت-طَ-لب]اسم صفت- آرام پسند- راحت غوښتونکے- (م- عربي)-

راحتګي:[را-حَت-ګي]اسم- واحد- مؤنث- اسوده حالي- خوشحالي- دولتمندي- راتګي- راحته- راته-

راحته:[را-حه-ته]اسم- واحد- مؤنث- وګورئ راحتګي- راته-

راحله:[راح-له]اسم- واحد- مؤنث- شاروے- د سورلۍ ځناور-

راخبرول:[را-خبـ-ر-ول]مصدر متعدي- (۱)رابلل- پهٔ خبر یا اطلاع سره د متکلم طرف ته راغوښتل- (۲)راغمسول- راتحریکول- راپارول- راپورته کول- (۳)پوهول او بېدارول-

راخبرونکے:[را-خبـ-ر-وون-کے]اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راخبرونکي- مؤنث راخبرونکې- وګورئ راخبرول-

راخبرونه:[را-خبـ-ر-و-نه]حاصل مصدر- وګورئ راخبرول-

www.pukhto.net

راخبرېدل:[را-خَبـ-ري-دل]مصدر لازم- دَ متکلم نه خبرېدل- اطلاع مونډل-
راخبرېدنه:[را-خَبـ-ري-دَنـه]حاصل مصدر- وګورئ راخبرېدل-
راخبرېدهٔ:[را-خَبـ-ري-دهٔ]حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ خبرېدل-
راخهرول:[را-خَپهـ-ر-ول]مصدر متعدی- (۱)رانشرول- خورول- راغورول- (۲)تیتول- تس نس کول- (۳)راشړل- دَ ځان خوا ته رالېږل- (۴)شندل- شنل- نَستل- نَستل- (افغانستان)-
راخهرونکے:[را-خَپهـ-ر-ون-کے]اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راخهرونکي- مؤنث راخهرونکې- وګورئ راخهرول-
راخهرونه:[را-خَپهـ-ر-وَنـه]حاصل مصدر- وګورئ راخهرول-
راخهرېدل:[را-خَپهـ-ري-دل]مصدر لازم- (۱)دَ متکلم په طرف خورېدل- (۲)رانشرېدل- راخورېدل- راغوړېدل- (۳)تس نس کېدل- (۴)شندل کېدل- نَستل کېدل- (۵)راشړېدل کېدل- (افغانستان)-
راخهرېدنه:[را-خَپهـ-ري-دَنـه]حاصل مصدر- وګورئ راخهرېدل-
راخهرېدونکے:[را-خَپهـ-ري-دون-کے]اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راخهرېدونکي- مؤنث راخهرېدونکې- وګورئ راخهرېدل-
راخهرېدهٔ:[را-خَپهـ-ري-دهٔ]حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ راخهرېدل-
راختل:[را-خِ-تَل]مصدر- (۱)راولاړېدل- راښکاره کېدل- راجګېدل- راپورته کېدل- (۲)لهٔ پاسه وَرېدل- وربانْدې وَرېدل-
راختلے:[را-خِـتَـلے]اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع راختلي- مؤنث راختلې- وګورئ راختل-
راختنه:[را-خِ-تَـنه]حاصل مصدر- وګورئ راختل-
راختونکے:[را-خِـتون-کے]اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راختونکي- مؤنث راختونکې- وګورئ راختل-
راختونے:[را-خِـتو-نے]اسم فاعل- واحد- مذکر- راختونکے- راوتونکے- طلوع کېدونکے-
راخلاصول:[را-خَلا-ص-ول]مصدر متعدی- (۱)راخلاصے کول- راآزادول- راپرېښودل- (۲)بېرته کول- پرانستل- وازول- خلاصول- لرې کول-
راخلاصونکے:[را-خَلا-ص-ون-کے]اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راخلاصونکي- مؤنث راخلاصونکې- وګورئ راخلاصول-
راخلاصونه:[را-خَلا-ص-وَنـه]حاصل مصدر- وګورئ راخلاصول-
راخلاصېدل:[را-خلا-صي-دل]مصدر لازم- (۱)خلاصے کېدل- راآزادېدل- راپرېښودے کېدل- (۲)بېرته کېدل- پرانستلے کېدل- خلاصېدل- لرې کېدل-
راخلاصېدهٔ:[را-خَلا-صي-دهٔ]حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ راخلاصېدل-
راخورول:[را-خَو-ر-ول]مصدر متعدی- (۱)تیتول- خپرول- خورول- (۲)غوړول- اوارول-

راخورونکے:[را-خو-ر-ون-کے]اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راخورونکي- مؤنث راخورونکې- وګورئ راخورول-
راخورونه:[را-خو-ر-وَنـه]حاصل مصدر- وګورئ راخورول-
راخورېدل:[را-خو-ري-دل]مصدر لازم- (۱)خپرېدل- تیتېدل- (۲)غوړېدل- اوارېدل-
راخورېدن:[را-خو-ري-دن]حاصل مصدر- وګورئ راخورېدل-
راخورېدنه:[را-خو-ري-دَنـه]حاصل مصدر- وګورئ راخورېدل-
راخورېدونکے:[را-خو-ري-دون-کے]اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راخورېدونکي- مؤنث راخورېدونکې- وګورئ راخورېدل-
راخورېدهٔ:[را-خو-ري-دهٔ]حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ راخورېدل-
راخېژول:[را-خې-ژ-ول]مصدر متعدی- (۱)راپورته کول- راجګول- خېژول- (۲)راسپرول- سورول-
راخېستل:[را-خېس-تَل]مصدر- وګورئ رااخېستل-
راخېستلے:[را-خېس-تـَلے]اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع راخېستلي- مؤنث راخېستلې- وګورئ راخېستل-
راخېستن:[را-خېس-تَن]حاصل مصدر- وګورئ راخېستل-
راخېستنه:[را-خېس-تَـنه]حاصل مصدر- وګورئ راخېستل-
راخېستونکے:[را-خېس-تون-کے]اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راخېستونکي- مؤنث راخېستونکې- وګورئ راخېستل-
راد:[راد]اسم صفت- مېړنے- بهادر-
رادلو:[را-دلو]اسم صفت- لیکي لیکي- خط خط- کرښې کرښې- پټې پټې- هغه کپړه چې لارې لارې یا لیکي لیکي وي- (افغانستان)-
رادروسل:[را-دَرو-سَل]مصدر- (۱)رامنډې کول- راتلل- په منډه منډه راخغستل- (۲)دَ ځان خوا ته راتلل-
راده:[را-ده]اسم- پټې پټې- لیکي لیکي-
رادې پلو:[را-دې-پهـلو]متعلق فعل- دې خوا ته- دې څنګ ته- دېخوا-
راده:[را-ده]اسم- رود- سیند- دَ اوبو خوړ- دَ اوبو لګه-
رارسول:[را-رَس-ول]مصدر- (۱)رسول- دَ یو ځایٔ نه بل ځایٔ ته راوړل- دَ متکلم په لوری راوړل- راانتقالول- (۲)راوړول- لهٔ سرحده راتېرول-
رارسون:[را-رَس-ون]حاصل مصدر- وګورئ رارسول-
رارسونکے:[را-رَس-ون-کے]اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رارسونکي- مؤنث رارسونکې- وګورئ رارسول-
رارسونه:[را-رس-وَنـه]حاصل مصدر- وګورئ رارسول-
رارسېدل:[را-رَسي-دل]مصدر لازم- رسېدل- لهٔ بله ځایه راتلل- راوارېدل- راانتقالېدل-
رارسېدن:[را-رَسي-دَن]حاصل مصدر- وګورئ رارسېدل-
رارسېدنه:[را-رَسي-دَنـه]حاصل مصدر- وګورئ رارسېدل-

ي: (ښي-ږل)، ې: (ښي-ږه-وږل)، ۍ: (ښپا-ښي)، ئ:(تن-دې) تفصیل د پاره وګورئ: تشریحات صفحه ۱.

رارسېدونکے:(رار-سې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رارسېدونکي- مؤنث رارسېدونکې- وګورئ رارسېدل-

رارسېدهٔ:(رار-سې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ رارسېدل-

رارووے:(رار-وے)اسم- واحد- مذکر- راهرو- لاروے- پهٔ لاره تلونکے- جمع راروي-

راړه:(را-ړه)اسم- واحد- مؤنث- غوښه- برورهٔ- يو قسم زهر لرونکي حشره چې پهٔ بزو کښې پيدا کيږي او خلق او بزې چيچي- جمع راړې-

راړه:(را-ړه)اسم- واحد- مؤنث- کهوله پړوړي- کهوړه- د هر پول ميده شوي غلې لهٔ کهون نه پخه شوې پړوړي- هغه پړوړي چې دَ بيلو بيلو اوړو لهٔ کهولو او يو ځاې کولو نه پخيږي-

راړه:(را-ړه)اسم- واحد- مؤنث- پېټي- موټ- لوبيا- مهې- مې- چنه- مسور- مټر-

راز:(راز)اسم- واحد- مذکر- پټه خبره- هغه خبره چې پهٔ زړهٔ يا فکر کښې پټه وي- (م- فارسي)-

راز:(راز)اسم- واحد- مذکر- يو قسم بوټيې او دَ هغې ميوه- (افغانستان)-

راز:(راز)متعلق فعل- (۱)قسم- پول- (۲)غندې- پهٔ شان-

رازدار:(راز-دار)اسم صفت- راز ساتونکے- دَ سِر شريک- هغه څوک چې پټه خبره يا راز ساتي-

رازداري:(راز-دا-ري)اسم- راز ساتنه- راز نهٔ ونيئه- خوله ساتي-

رازغ:(را-زغ)اسم- راغو- راتوپ کونه- د چا پهٔ خبره کښې ناڅاپي راتوپ کونه- پهٔ اوچت اواز غږ کونه-

رازق:(را-زق)اسم صفت- رزق رسونکے- خواړه وررسونکے- روزي رسان- روزي ورکونکے- دَ الله تعالىٰ يو صفتي نوم-

رازل:(را-زل)مصدر- (۱)ودلى کول- سيکلول- ښکلے کول- ښکلا ورکول- (۲)عزت ورکول- درناوے ورکول- احترام کول- درنول- نمانځل-

رازلے:(را-زَ-لے)اسم مفعول- وګورئ رازل-

رازن:(را-زن)حاصل مصدر- وګورئ رازل-

رازنه:(را-زَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ رازل-

رازوباز:(را-زو-باز)اسم- وګورئ راز و نياز-

رازونکے:(را-زون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رازونکي- مؤنث رازونکې- وګورئ رازل-

راز و نياز:(را-زو-نياز)دَ زړهٔ خواله- دَ مينې او ناز خبرې- راز و باز- دَ سِر خبرې- د عجز عبادت-

راس:(راس)اسم- (۱)سَر- دَ يو شي لوړنى برخه- دَ وچې هغه يوه برخه چې پهٔ اُبو کښې ورانديې تللې وي- (۲)دَ مثلث هغه زاويه چې قاعدې ته پهٔ مقابل کښې وي- (۳)دَ قوم مشر- سرکښه- سرغنه- (۴)دَ ځاروبو د شمېر سره هم ونلے کيږي-

راساً:(را-سن)متعلق فعل- مستقيماً- نېغ پهٔ نېغه- بې لهٔ رابطې- (افغانستان)-

راست:(راست)اسم- واحد- مذکر- (۱)ښے- دَ کيڼ يا چپ ضد- (۲)اسم- نېغ- (۳)ربښتين- دَ منافق ضد-

راستکار:(راست-کار)اسم صفت- (۱)سپين- صادق- پهٔ زړهٔ پاک- (۲)امين- امانت ګر- امانتکار- (۳)دَ کاذب يا دروغژن ضد- (۴)راستمن- هغه څوک چې پهٔ صداقت سره کار کوي-

راستګو:(راست-ګو)اسم صفت- سپين ګويه- ربښتين- ربښتونے- هغه څوک چې پهٔ وينا کښې صادق وي-

راستګوئي:(راست-ګو-ئي)اسم- رښتيا- صداقت- ربښتيا وئينه-

راست ګوئے:(راست-ګو-ئے)اسم صفت- مذکر- ربښتونے- ربښتيا ويونکے-

راستمن:(راست-من)صفت- وګورئ راستکار-

راستنول:(راستَ-نَ-ول)مصدر- راګرځول- بېرته ستنول- بېرته راګرځول- پهٔ شاتې راګرځول- واپس راګرځول- په ستنه راګرځول-

راستنونکے:(راستَ-نَ-وون-کے)اسم فاعل- جمع راستنونکي- مؤنث راستنونکې- وګورئ راستنول-

راستنونه:(راستَ-نَ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ راستنول-

راستنېدل:(راستَ-نې-دل)مصدر لازم- راګرځېدل- بېرته ستنېدل- واپس راګرځېدل-

راستنېدن:(راستَ-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ راستنېدل-

راستنېدونکے:(راستَ-نې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راستنېدونکي- مؤنث راستنېدونکې- وګورئ راستنېدل-

راستنېده:(راستَ-نې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ راستنېدل-

راستول:(راس-تَ-ول)مصدر- وګورئ راستنول-

راستون:(راس-تَ-ون)حاصل مصدر- وګورئ راستول-

راستون:(راس-تون)اسم صفت- راګرځېدلے- راغبرګ- بېرته راغلے- بېرته راګرځېدلے-

راستونکے:(راس-تَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راستونکي- مؤنث راستونکې- وګورئ راستول-

راستونه:(راس-تَ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ راستول-

راسته:(راس-ته)صفت- (۱)ښے- دَ کيڼ ضد- (۲)اسم- نېغ- دَ کوږ او معکوس ضد-

راسته:(راس-ته)اسم- واحد- مؤنث- کيله- رسته- کتار- کتور- لېن- هغه کورونه، دکانونه يا ودانۍ چې پهٔ يو لوري يا يوه کرښه کښې واقع وي- (افغانستان)-

راستي:(راس-تي)اسم صفت- صداقت- ايمانداري- سپين توب- رښتيا- (م- فارسي)-

زېر (ح-بيڅ-ره)، زوروکے (شل)، پېښ (نو-کا-ره)، زېر (ک-تاب)، جزم (شکون)، ٔ (ز-وه)، ـ (بو-جې-دهٔ)

www.pukhto.net

راسخ:(راسخ)اسم- ثابت- کلک- محکم- برقرار- استوار- ټینګ- (م- عربي)-

راسره:(راس-سره)اسم صفت- راځه- راشکه- لهٔ ما سره- دٔ متکلم سره دٔ یو شی موجودیت او ملګرتیا ښائی-

راسن:(راسن)اسم- واحد- مذکر- ګوری- راشن- خوراکه- انوقه- د خوراک شیان- تایه- زری- خورومه- جمع راسنونه- (م- انګریزی راشن)-

راسه:(راسه)آمر- راشه- روځه- ارکه- دٔ "راشه" بل قرات-

راسي:(راسي)متعلق فعل- رامیسې- را پهٔ دېخوا- لهٔ هغه وخته-

راش:(راش)اسم- رشه- راشه- پهٔ درمند کښې صفا شوې غله-

راشپېل:(راش-ښپېل)اسم- واحد- مذکر- پړکې- رشپېل- رشپېل- دٔ لرګی آله چې دانې پرې الوځولې شی- دٔ واورو پاکولو خوږی- کابي نه دٔ اور راایستو دٔ اسپنې آله-

راشپېل:(راش-پېل)اسم- واحد- مذکر- وګورئ راشپېل-

راشتلے:(راش-تلے)اسم- واحد- مذکر- تلے- ریشتلے- د غلې هغه ناپاکه او رروستنۍ برخه چې پهٔ درمند کښې لهٔ رېکښې (رشی/راشی) ښخه پاتې کیږی-

راشه:(راشه)اسم- واحد- مؤنث- راشهٔ- رشه- دٔ غلې دانې ډېرے چې پهٔ درمند کښې دٔ خس او خاورو نه پاکه کړې پرته وی-

راشه:(راشه)امر- راسه- راځه- مخاطب ته دٔ راتللو امر-

راشه درشه:(راشه-درشه)اسم- (۱)سلوک- ګذاره- ګوزاره- زیست روزګار- دار و مدار- (۲)تګ راتګ- تلهٔ راتلهٔ- تعلق- څېلوی-

راشهٔ:(راشهٔ)اسم- واحد- مؤنث- ویاسه- اریاسه- رشه- دٔ صفا غلې ډېرے-

راشي:(راشي)اسم صفت- رشوت اخستونکے- رشوتي- (م- عربي)-

راشیدل:(راشین-دل)مصدر لازم- راشنل- رانستل- راتیښول- راپاشل-

راشے:(راشے)اسم- رېو- رېځ- برف کوچ- ایمال- دٔ واورې ښوئېدنه- (افغانستان)-

راښکاره:(راښکاره)اسم- متکلم ته څهٔ شے ښکاره کونه-

راښکل:(راښکل)مصدر- (۱)راکښل- راکاږل- راکش کول- راکشول- راښکول- (۲)راوباسل- راویستل- لهٔ ژور ځائې نه دٔ یو شی راپورته کول-

راښکل:(راښ-کل)اسم- واحد- مذکر- یوه غرنیزه ونه-

راښکلے:(راښ-کهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع راښکلی- مؤنث راښکلې- وګورئ راښکل-

راښکنه:(راښ-کنه)حاصل مصدر- وګورئ راښکل-

راښکو:(راښکو)اسم- واحد- مذکر- دٔ تانبې یا زرو دٔ ویدولو او نرې کولو دٔ پاره پکارېدونکې آله-

راښکوبے:(راښ-کو-بے)اسم- راښکوبے- دٔ اُبو دٔ راایستلو مشین- (افغانستان)-

راښکودل:(راښ-کو-دل)مصدر- راکښل- وګورئ راښکل-

راښکول:(راښ-کول)اسم- راکول- کهږ- مداوو- ګابېور- غوبوور- غابور- یوه آله چې پهٔ غوایانو پسې تړلے کیږی او دٔ هغې پهٔ وسیله پټے هوارېږی- ماله- (افغانستان)-

راښکون:(راښ-کون/راښکون)اسم- راښکنه- راکاږنه- کشونه- راباسنه- راکشونګ- راکښون-

راښکونکے:(راښ-کون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راښکونکی- مؤنث راښکونکې- وګورئ راښکل-

راښکهٔ:(راښ-کهٔ)حاصل مصدر او دٔ ماضی استمراری دٔ واحد غائب صیغه- وګورئ راښکل-

راښکے:(راښکے)اسم- شروع شو- عموماً دٔ باران یا ولې پهٔ وخت ونیلے شی- وګورئ راکښے-

راښودل:(راښو-دل)مصدر- ښودل- راښکاره کول- راښیل- روښول-

راضي:(راضي)اسم- (۱)رضا- خوش- خوشاله- خوشحاله- قانع- (۲)راړه- مطمئن- (م- عربي)-

راضیمن:(راضي-من)اسم- رضامند- راضي- خوښ- قانع-

راضي نامه:(راضي-نا-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)هغه پاڼه چې پهٔ هغې کښې خپله رضا او خوښه لیکلے کیږی- (۲)جوړه- روغه- موافقه- خوښه- جمع راضي نامې-

راعی:(راعی)اسم- شپون- غوبه- (م- عربي)-

راغ:(راغ)اسم- (۱)څوځائې- ورشو- (۲)صحرا- دښته- دښته- راغه- (۲)دٔ غرهٔ لمن- (م- عربي)-

راغب:(راغب)اسم- مائل- غښتونکے- علاقه مند- مځو- مځونکے-

راغبرګ:(را-غبرګ)صفت- (۱)راستون- راګرځېدلے- بیا راغلے- (۲)غبرګ کت شوے- رابغرګ- برغک-

راغبرګول:(راغبر-ګول)مصدر متعدی- (۱)راستنول- راګرځول- بیا راوستل- بېرته راوستل- (۲)اقت کول- ماتول- رابرغول- غبرګول-

راغبرګون:(راغبر-ګون)حاصل مصدر- وګورئ راغبرګول-

راغبرګونکے:(راغبر-ګون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راغبرګونکی- مؤنث راغبرګونکې- وګورئ راغبرګول-

راغبرګونه:(راغبر-ګو-نه)حاصل مصدر- وګورئ راغبرګول-

راغبرګېدل:(راغبر-ګې-دل)مصدر لازم- (۱)رابرغېدل- راستنېدل- راګرځېدل- (۲)اقت کېدل-

راغبرګېدن:(راغبر-ګې-دن)حاصل مصدر- وګورئ راغبرګېدل-

راغبرګېدونکے:(راغبر-ګې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راغبرګېدونکی- مؤنث راغبرګېدونکې- وګورئ راغبرګېدل-

راغبرګېدهٔ:(راغبر-ګې-دهٔ)حاصل مصدر او دٔ ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ راغبرګېدل-

راغرخول:(راغر-خول)مصدر متعدی- راارتاول- راارتاول- دٔ متکلم پلو ته رااچول- د متکلم خوا ته غرخول- راشړل- رابوښول-

www pukhto.net

راغرخون :(را-غر-خه-ون)حاصل مصدر- وګوری راغرخول-

راغرخونکے :(را-غر-خه-وون-کے)اسم فاعل- جمع راغرخونکی- مؤنث راغرخونکې- وګوری راغرخول-

راغرخونه:(را-غر-خه-وڼه)حاصل مصدر- وګوری راغرخول-

راغرخېدل:(را-غر-خې-دل)مصدر لازم- رالړتاوېدل- رالړتاوېدل- د متکلم طرف ته راغرخېدل-

راغرخېدن:(را-غر-خې-دن)حاصل مصدر- وګوری راغرخېدل-

راغرخېدونکے:(را-غر-خې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راغرخېدونکی- مؤنث راغرخېدونکې- وګوری راغرخېدل-

راغرخېدهٔ:(را-غر-خې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګوری راغرخېدل-

راغبتل:(را-غبن-تل)مصدر- رابلل- غبتل- خپلې خوا ته رابلل-

راغبتلے:(را-غبن-تهٔ-لے)اسم مفعول- جمع راغبتلی- مؤنث راغبتلې- وګوری راغبتل-

راغبتنه:(را-غبن-تهٔ-نه)حاصل مصدر- وګوری راغبتل-

راغلے:(را-غهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- راغبرګ شوے- رارسېدلے- راستون شوے- جمع راغلی- مؤنث راغلې-

راغنخول:(را-غن-خ-ول)مصدر متعدی- (۱)د مچیو تورول- د غمبسو پارول- (۲)د کبو خلقو د غنډېدو داسې حالت چې ځنګ په ځنګ وی او حرکت ورکړے شی-

راغنخون:(را-غن-خ-ون)حاصل مصدر- وګوری راغنخول-

راغنخونکے:(را-غن-خه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راغنخونکی- مؤنث راغنخونکې- وګوری راغنخول-

راغنخونه:(را-غن-خه-وڼه)حاصل مصدر- وګوری راغنخول-

راغنخېدل:(را-غن-خې-دل)مصدر لازم- (۱)لګېدل- د مچیو تورېدل- د غمبسو تهرېدل- (۲)خوځېدل- زومبېدل-

راغنخېدن:(را-غن-خې-دن)حاصل مصدر- وګوری راغنخېدل-

راغنخېدنه:(را-غن-خې-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګوری راغنخېدل-

راغنخېدونکے:(را-غن-خې-دون-کے)اسم فاعل- جمع راغنخېدونکی- مؤنث راغنخېدونکې- وګوری راغنخېدل-

راغنخېدهٔ:(را-غن-خې-دهٔ)حاصل مصدر- وګوری راغنخېدل-

راغنډ:(را-غنډ)اسم- راټنډ- راټول- یو ځاې- (۲)ګرد- ګردے- ګردے-

راغنډول:(را-غن-ډ-ول)مصدر متعدی- راټولول- غنډول- یوځاې کول- راټنډول- یوځاې ته راجمع کول-

راغنډون:(را-غن-ډ-ون)حاصل مصدر- وګوری راغنډول-

راغنډونکے:(را-غن-ډ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راغنډونکی- مؤنث راغنډونکې- وګوری راغنډول-

راغنډونه:(را-غن-ډ-وڼه)حاصل مصدر- وګوری راغنډول-

راغنډېدل:(را-غن-ډې-دل)مصدر لازم- راټولېدل- غنډېدل- یوځاې کېدل- راټنډېدل-

راغنډېدن:(را-غن-ډې-دن)حاصل مصدر- وګوری راغنډېدل-

راغنډېدنه:(را-غن-ډې-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګوری راغنډېدل-

راغنډېدونکے:(را-غن-ډې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راغنډېدونکی- مؤنث راغنډېدونکې- وګوری راغنډېدل-

راغنډېدهٔ:(را-غن-ډې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګوری راغنډېدل-

راغه:(را-غه)اسم- واحد- مؤنث- میره- د غرهٔ په لمن کښې میره- ورشو- سبزه زار- د غرهٔ پوره- دشت- پاګ- صحرا-

رافض:(را-فض)اسم صفت- پرېښودونکے- ترک کونکے- پرېښودونے- لهٔ لاری اوښتونکے- (م- عربی)-

رافضه:(را-فې-ضه)اسم- هغه ډله چې خپل لار ښود پرېږدی او د هغه د لارې نه واوړی-

رافضی:(را-فې-ضی)اسم صفت- (۱)د خلافت راشده د وړومبو دریو خلیفه ګانو د خلافت لهٔ حقه منکر- (۲)وابېزی- پرېښوندے-

رافضی توب:(را-فې-ضی-توب)اسم- دروغ-

رافع:(را-فع)اسم- (۱)رفع- اوچت- اوچتوونکے- پورته کوونکے- لری کونکے- (۲)عارض- د عرض یا عریضې وړاندی کونکے- (م- عربی)-

راقم:(را-قم)اسم صفت- لیکونکے- (م- عربی)-

راقم الحروف:(را-قم-مل-ح-روف)اسم صفت- (۱)لیکونکے- کښونکے- (۲)د خطاطی د یوی قطعې یا یو کتاب لاس لیکونکے-

راقی:(را-قی)اسم- (۱)عتیق- تیمتی غمے- راکی- (۲)صفت- پاړوګر- افسون ګر-

راک:(راک)اسم- راګ- ورک- لهٔ سټیو څخه جوړ شوے پټلون پوله لباس چې د شړی په څېر څیر وی او د پرتوګ کلو تری اخستے شی- (افغانستان)-

راکاږل:(را-کا-ږل)مصدر متعدی- راوکښل- رابلل- لهٔ ښکته یا ژور ځاې نه راپورته کول او راویستل-

راکاږنه:(را-کا-ږنه)حاصل مصدر- وګوری راکاږل-

راکاږونکے:(را-کا-ږون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راکاږونکی- مؤنث راکاږونکې- وګوری راکاږل-

راکب:(را-کب)اسم- سور- سپور- (م- عربی)-

راکټ:(را-کټ)اسم- یوه انګریزی وسله- ټغندے- (۲)د ټینس لو ګولی- (۲)یو قسم ماشردار توپ-

راکټی:(را-کټی)اسم- د راکټ- د ګولی- په راکټ مربوط- د راکټ سره سمون-

راکد:(را-کد)صفت- (۱)بې حرکته- ځاې په ځاې ولاړ- آرام- ثابت- (۲)- اسم(کورم- بند- ولاړی (اُبه)- بند-

www.pukhto.net

راکړه:(را-ک-ړه)حاصل مصدر/اسم- (۱)احستنه- لهٔ بل چا دَ يو شي دَ اخستو عمل- (۲)مخاطب ته دَ راکولو امر- راکه- روکه-

راکړه ورکړه:(را-ک-ړه-ور-کړه)اسم مرکب- ورکړه راکړه- لين دين- لاګ و پار-

راکس:(را-کس)اسم- دَ غوبل دَ غوايانو پله- دَ غوبل پهٔ غوايانو کښې منځنۍ غوئۍ-

راکش:(را-کش)اسم صفت- (۱)راکښ- راکښل شوې- راښکېدلې- (۲)راځکول شوې-

راکښ:(را-کښ)اسم صفت- وګورئ راکش-

راکښته:(را-کښه-ته)اسم صفت- راکوز- رالاندې- ښکته- ټيټ-

راکښل:(را-کښل)مصدر متعدي- (۱)رااېستل- راباسل- راوکښل- (۲)کشول- کش کول- ځکول-

راکښلے:(را-کښه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع راکښلي- مؤنث راکښلې- وګورئ راکښل-

راکښنه:(را-کښه-نه)حاصل مصدر- وګورئ راکښل-

راکښوبے:(را-ښو-بے)اسم- واترپمپ- دَ اُبو مشين- (افغانستان)-

راکښونکے:(را-کښون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راکښونکي- مؤنث راکښونکې- وګورئ راکښل-

راکښے:(را-کښے)اسم- (۱)راکښنه- (۲)راشروع- رالاندې- وګورئ راښکے-

راکوز:(را-کوز)اسم صفت- راښکته- رالاندې- راټيټ-

راکوزول:(را-کو-ز-ول)مصدر متعدي- (۱)کوزول- راښکته کول- لهٔ پاس نه کوزول- (۲)لهٔ مقامه يا چوکۍ ځنې لرې کول- راټيټول- رالوول- لرې کول-

راکوزون:(را-کو-ز-ون)حاصل مصدر- وګورئ راکوزول-

راکوزونکے:(را-کو-ز-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راکوزونکي- مؤنث راکوزونکې- وګورئ راکوزول-

راکوزونه:(را-کو-ز-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ راکوزول-

راکوزېدل:(را-کو-زې-دل)مصدر لازم- (۱)راښکته کېدل- (۲)لهٔ مقامه يا ځهٔ عهدې نه اخوا کېدل- راټيټېدل-

راکوزېدن:(را-کو-زې-دن)حاصل مصدر- وګورئ راکوزېدل-

راکوزېدنه:(را-کو-زې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ راکوزېدل-

راکوزېدونکے:(را-کو-زې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راکوزېدونکي- مؤنث راکوزېدونکې- وګورئ راکوزېدل-

راکوزېدهٔ:(را-کو-زې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ راکوزېدل-

راکول:(را-ک-ول)مصدر متعدي- رااخيستل- لهٔ مقابل طرف نه دَ يو شي ترلاسه کول- دَ "ورکول" ضد-

راکون:(را-ک-ون)حاصل مصدر- وګورئ راکول-

راکونکے:(را-ک-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راکونکي- مؤنث راکونکې- وګورئ راکول-

راکونه:(را-ک-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ راکول-

راکی:(را-کي)اسم- واحد- مذکر- وګورئ راقي-

راګ:(راګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)سندره- نغمه- سرود- (۲)عيش- طرب- راګ رنګ- (۲)آهنګ- ټون- (۴)پرده- (۵)دَ موسيقي مقام- مقام- دَ سنګيت يو توک- دَ کلاسيکي موسيقۍ دَ اوو ګرېو مودو ځنه يو مود- (۶)هغه وضع شوې حرکات چې د ختيزې موسيقۍ د ترېکونو بنسټ جوړوي-

راګ:(راګ)اسم- واحد- مذکر- يو قسم پرتوګ چې لهٔ وږغنو نه تياريږي- پتلون-

راګرځول:(را-ګر-ځ-ول)مصدر- راستنول- راواپس کول- پهٔ شا راستنول- مخه بيول-

راګرځون:(را-ګر-ځ-ون)حاصل مصدر- وګورئ راګرځول-

راګرځونکے:(را-ګر-ځ-وون-کے)اسم فاعل- جمع راګرځونکي- مؤنث راګرځونکې- وګورئ راګرځول-

راګرځونه:(را-ګر-ځ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ راګرځول-

راګرځېدل:(را-ګر-ځې-دل)مصدر لازم- راستنېدل- راواپس کېدل- پهٔ شا راستنېدل-

راګرځېدن:(را-ګر-ځې-دن)حاصل مصدر- وګورئ راګرځېدل-

راګرځېدنه:(را-ګر-ځې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ راګرځېدل-

راګرځېدونکے:(را-ګر-ځې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راګرځېدونکي- مؤنث راګرځېدونکې- وګورئ راګرځېدل-

راګرځېدهٔ:(را-ګر-ځې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ راګرځېدل-

راګنی:(راګ-ني)اسم- د موسيقي شعبه- ثانوي راګونه- دوه درجه ټيز راګ-

راګېر:(را-ګېر)اسم صفت- (۱)بندي- حصار- راايسار- محصور- رابند- (۲)دوچار- اخته- لګيا- مشغول- مصروف-

راګېرول:(را-ګې-ر-ول)مصدر- (۱)ايسارول- بندول- (۲)اخته کول-

راګېرون:(را-ګې-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ راګېرول-

راګېرونکے:(را-ګې-ر-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راګېرونکي- مؤنث راګېرونکې- وګورئ راګېرول-

راګېرونه:(را-ګې-ر-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ راګېرول-

راګېرېدل:(را-ګې-رې-دل)مصدر لازم- ايسارېدل- بندېدل-

راګېرېدن:(را-ګې-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ راګېرېدل-

راګېرېدونکے:(را-ګې-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راګېرېدونکي- مؤنث راګېرېدونکې- وګورئ راګېرېدل-

راګېرېدهٔ:(را-ګې-رې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ راګېرېدل-

رال:(رال)اسم- دَ چرګې د اګې عوري- سندروس-

"ي" (ځي-رل)، "ې" (مې-ر-ول)، "ى" (پيا-لي)، "ے" (تن-د-ے) تفصيل دَ پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

رالوه:(را-لَ-وه)اسم ضمیر- رالہ- راتہ- ما تہ- زما دَ پارہ-

راله:(را-له)اسم ضمیر- وګورئ رالوہ-

رالېږل:(را-لي-ږل)مصدرِ متعدی- رااستول- لۀ مقابله لوری ېبخوا تہ راستول- دَ "ورلېږل" مقابل-

رالېږلے:(را-لي-ږِلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع رالېږلی- مؤنث رالېږلې- وګورئ رالېږل-

رالېږن:(را-لي-ږن)حاصلِ مصدر- وګورئ رالېږل-

رالېږنه:(را-لي-ږِ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ رالېږل-

رالېږونکے:(را-لي-ږون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رالېږونکی- مؤنث رالېږونکې- وګورئ رالېږل-

رام:(رام)صفت- اصیل- اموخته شوے- تابع- مطیع- (فارسی/ژند)-

رامات:(را-مات)صفت- راخلاص- راپۀ منہہ- جمع کېدنہ- راروان- راتلنَہ-

رامباړه:(رام-با-ړه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ رامبوړہ-

رامبوړه:(رام-بو-ړه)اسم صوت- رامباړہ- برړہ- دَ غوا مېښې وغیرہ اواز- جمع رامبوړې-

رامبېل:(رام-بېل)اسم- واحد- مذکر- رانبېل- رابېل- رمبېل- یو قسم ګل چې ډېر پۀ زړۀ پورې بوئ لری- نباتاتی نوم (JASMINUM)- جمع رامبېلونہ-

رامت:(را-مَت)اسم- دَ رحمت مخفف-

رامڅ:(رام-څ)اسم- لړ- لړی-

رامڅونی:(را-م-څو-نی)اسم صفت- رانڅوړئ- (۱)راټول- راجَخت- راتنګ- راغُنډ- رایوځایٔ- (۲)خفہ- مړاوے- مرور-

رامڅونېدل:(را-م-څو-نې-دَل)مصدر لازم- راڅونېدل- راماتېدل- جوغړی کېدل- جانګړی کېدل- ټِنډ ټِنډ کېدل- (۲)خفه کېدل- مړاوے کېدل- مروړېدل-

رامزدکے:(را-مزد-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ رامزدګے-

رامزدګے:(را-مزد-ګے)اسم- واحد- مذکر- رامزدکے- هغه غټو مټو لرکے چې دَ ژرندې پل پرې ګرځی-

رامشت:(را-مَشت)اسم صفت- پړولے- ښائیسته- ښکلے- دَ بدرنګ مقابل- (افغانستان)-

رامشت:(را-مشت)اسم- (۱)ساز- سرود- (۲)عیش- خوښی- (افغانستان)-

رامشتګر:(را-مشت-ګر)اسم صفت- واحد- مذکر- سندرغاړے- سندری ویونکے- بدله ویونکے- لوبې ویونکے- جمع رامشتګران- (افغانستان)-

رامکان:(را-م-کان)اسم- مذکر- پېړو- ورین ګټلو- کېش- دَ ناریه هغه ګټلو چې لۀ وړی نه جوړ وی-

رام ګل:(رام-ګل)اسم- واحد- مذکر- دَ یو ګل نامه-

راموسے:(را-مو-سے)اسم- هغه هوسی چې مشک ترې لاس ته راځی-

رامیا:(را-میا)اسم- شپون- ګډبه-

رانجومه:(ران-جو-مه)اسمؔ- واحد- مؤنث- رنجونه- رنجړونه- رانجړومه- رجړومه- ننجړومه- دَ رانجو او سلائی بوګنګی- جمع رانجومې-

رانجونونی:(ران-جو-نو-نی)اسم- واحد- مؤنث- رنجړومه- لجومه- لجړومه- لجړومه- رجړومه- هغه وړه کڅوړه چې دَ سترګو دارو یا رانجۀ پکښې ساتلے شی- رانجومه-

رانجۀ:(ران-جۀ)اسم- جمع- مذکر- دَ سترګو تورولو دَ پاره پکارونکی دارو- کجل-

رانخړۀ:(ران-خړۀ)اسم- رنخړۀ- ننخړۀ- لنخړۀ-

رانده:(ران-ده)اسم صفت- واحد- مذکر- بدکاره سړے- پۀ بدو کړلو نه شرمېدونکے- مردود- شړلے شوے- رټلے شوے- (م- فارسی)-

راندېمان:(ران-دي-مان)اسم- محصول- حاصل- هغه څۀ چې لاس ته راځی- (افغانستان)-

رانړن:(ران-ړن)اسم صفت- تیارۀ- تت- لږه تیارۀ- تیارۀ وزمه- تیارۀ غونے- (افغانستان)-

رانسکورول:(را-نس-کو-ر-ول)مصدر- (۱)راچپه کول- چپه کول- پۀ پل مخ اړول- پړمخ کول- سرچپه کول- (۲)راغځلول- (۲)ماتې ورکول- حریف یا غلیم ته ماتې ورکول-

رانسکورون:(را-نس-کو-ر-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ رانسکورول-

رانسکورونکے:(را-نس-کو-ر-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رانسکورونکی- مؤنث رانسکورونکې- وګورئ رانسکورول-

رانسکورونه:(را-نس-کو-ر-و-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ رانسکورول-

رانسکورېدل:(را-نس-کو-ری-دل)مصدر- (۱)راچپه کېدل- چپه کېدل- پۀ پل مخ اړولے کېدل- (۲)ماتې ورکېدل-

رانسکورېدن:(را-نس-کو-ري-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ رانسکورېدل-

رانسکورېدنه:(را-نس-کو-ري-د-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ رانسکورېدل-

رانسکورېدونکے:(را-نس-کو-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رانسکورېدونکی- مؤنث رانسکورېدونکې- وګورئ رانسکورېدل-

رانسکورېدۀ:(را-نس-کو-ري-دۀ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ رانسکورېدل-

رانښتل:(را-نښ-تل)مصدر- (۱)راګېرېدل- رابندېدل- (۲)جګړه نښلول- یو بل سره جګړې ومل- یو بل سره ایری ومل-

رانغاړل:(را-نغا-ړل)مصدر- (۱)راغړل- راتاوول- نغاړل- راټولول- (۲)هر شے پۀ خلۀ منډل- ټول خوراک پۀ خلۀ منډل- (۲)حرص کول-

رانګن:(ران-ګن)اسم- بکیاڼه- یو قسم ونه چې مېوه نۀ لری- نباتاتی نوم میلیا ازدمرک (MELIA AZEDARACH)- (افغانستان)-

رانوتل:(را-نن-و-تل)مصدر متعدی- خپل خان طرف ته دننه راتلل- دَ بهر نه دَ داخل خوا ته راتلل-

رانوتن:(را-نن-و-تن)حاصلِ مصدر- وګورئ رانوتل-

رانوتنه:(را-نن-و-ت-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ رانوتل-

زبر "(ح-بف-ره)، روورکے "(شل)، پېښ "(نو-کا-ره)، زمر "(ک-ماب)، جزم "(شکوپ)، ۀ (ر-ړه)، ۀ (پو-سي)

www.pukhto.net

رانـــنوتـونـکے:(را-نـنَ-نو-تُـون-کے)اسم فـاعل- واحـد- مـذکر- جـمع رانـنوتونکي- مؤنث رانـنوتونکې- وګورئ رانـنوتل-

رانـنه یستل:(را-ننَ-نَ-یس-تَل)مصدر- ننه ایستل- راداظول- رادننه کول- لهٔ بهر څخه دننه راوړل-

رانه:(را-نه)متعلق فعل- راڅخه- لهٔ مانه- زماڅخه- لهٔ ماڅخه- راڅکه-

رانیول:(را-نی-ول)مصدر- (۱)په لاسونو کښې نیول- یو شے لهٔ هوا څخه یا د منډې په حال کښې نیول- (۲)اخستل- په بیعه اخستل- په قیمت اخستل- خریداری کول-

رانیولے:(را-نی-وَلے)اسم مفعول- جمع رانیولي- مؤنث رانیولې- وګورئ رانیول-

رانیون:(را-نی-ون)حاصل مصدر- وګورئ رانیول-

رانیونکے:(را-نی-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رانیونکي- مؤنث رانیونکې- وګورئ رانیول-

رانیونګ:(را-نی-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ رانیول-

رانیونه:(را-نی-ونَه)حاصل مصدر- وګورئ رانیول-

رانهٔ:(را-نهٔ)اسم صفت- مذکر- پاک- شفاف- چې هیڅ خیرے او ګروالے پکښې نهٔ وی- د رون جمع-

رانی:(را-نی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)ایمدرانی- هیمدوانی- یندوه- رانی- هیندوه- د هندو مؤنث- (۲)د راجه ښځه- راجنه- راجګنه- ملکه- (۳)د باچا لور-

راواتهٔ:(را-وا-تهٔ)حاصل مصدر- د ورځې راواتهٔ- د ورشنې راواتهٔ- رابهر نه کېدهٔ- لهٔ داخل یا دننه څخه راواتهٔ- د بـاندې راتـګ- خروج- وګورئ راوتل-

راوتل:(را-و-تل)مصدر- راتوکېدل- رابنکاره کېدل- رابرڅېره کېدل- ورځنې راتلل- ورځنې راتلل- بېدیا ته راتلل- لهٔ دننه څخه رابهر کېدل- راخارجېدل- د باندې راوتل-

راوتن:(را-و-تَن)حاصل مصدر- وګورئ راوتل-

راوتنه:(را-و-تـنـه)حاصل مصدر- وګورئ راوتل-

راوتونکے:(را-و-تُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راوتونکي- مؤنث راوتونکې- وګورئ راوتل-

راوتهٔ:(را-و-تهٔ)حاصل مصدر- (۱)راټوټېدهٔ- راتوکېدهٔ- رابرڅېره کېدهٔ- (۲)مشهورتیا-

راوټکے:(را-و-ټه-کے راوټ-کے)اسم- وړوکے دالان- (افغانستان)-

راوراندي:(را-و-ران-دې)متعلق فعل- وړاندې- مخکښې- رامخکښې- رامخ ته-

راوړل:(را-وړل)مصدر متعدی- (۱)یو شے لهٔ یوځایٔ نه بل ځایٔ ته رانتقالول- (۲)زېږول- بچے زېږول- اولاد زېږول-

راوړن:(را-وړن)حاصل مصدر- وګورئ راوړل-

راوړنګ:(را-وړنګ)حاصل مصدر- وګورئ راوړل-

راوړنه:(را-وړ-نه)حاصل مصدر- وګورئ راوړل-

راووړونکے:(را-وړون-کے)فاعل صفت- وګورئ راوړل-

راووړه:(را-وړه)امر- وګورئ راوړل-

راوستل:(را-وس-تَل)مصدر- رالېږدول- یو سا لرونکے (انسان، حېوان) په خپلو پښو یا یو بې سا (د څهٔ وسیلې په واسطه) خپلې خوا ته رانقلول- د بوتلل بیول ضد-

راوستلے:(را-وس-تَه-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع راوستلي- مؤنث راوستلې- وګورئ راوستل-

راوستن:(را-وس-تن)حاصل مصدر- وګورئ راوستل-

راوستنګ:(را-وس-تَنګ)حاصل مصدر- وګورئ راوستل-

راوستنه:(را-وس-تَه-نه)حاصل مصدر- وګورئ راوستل-

راوستونکے:(را-وس-تُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راوستونکي- مؤنث راوستونکې- وګورئ راوستل-

راولاړېدل:(را-و-لا-ړې-دل)مصدر- (۱)راپاڅېدل- راجګېدل- راودرېدل- راپاڅېدل- ویښېدل- سهٔ ودرېدل- (۲)قیام کول- (۳)جنګېدل- جګړه کول-

راولاړېدلے:(را-و-لا-ړې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع راولاړېدلي- مؤنث راولاړېدلې- وګورئ راولاړېدل-

راولاړېدن:(را-و-لا-ړې-دن)حاصل مصدر- وګورئ راولاړېدل-

راولاړېدنګ:(را-و-لا-ړې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ راولاړېدل-

راولاړېدونکے:(را-و-لا-ړې-دُون-کے)اسم فـاعل- واحـد- مـذکر- جـمع راولاړېدونکي- مؤنث راولاړېدونکې- وګورئ راولاړېدل-

راولاړېدهٔ:(را-و-لا-ړې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ راولاړېدل-

راوه:(را-وه)اسم- واحد- مؤنث- ملهم- ملم- مرهم- هغه دوا یا دارو چې په زخم لګولے شي-

راوی:(را-وی)اسم صفت- روایت کونکے- د بل چا د خبرې یا د قول څخه روایت کونکے- هغه څوک چې حدیث رانقلوی- (م- عربی)-

راوېستل:(را-وېس-تل)مصدر- راوکېل- راوښکل- راایستل- رایستل- راباسل-

راوېستن:(را-وېس-تَن)حاصل مصدر- وګورئ راوېستل-

راوېستنه:(را-وېس-تَه-نه)حاصل مصدر- وګورئ راوېستل-

راوېستونکے:(را-وېس-تُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راوېستونکي- مؤنث راوېستونکې- وګورئ راوېستل-

راه:(راه)اسم- (۱)لاره- (۲)دود- طریقه- قاعده- (م- فارسی)-

راهب:(را-هب)اسم- عابد- پارسا- جمع راهبان- مؤنث راهبه- جمع مؤنث راهبې- (م- فارسی)-

راهبر:(راه-بَر)اسم صفت- راهنما- رهنما- بوميا- لاربونکے- جمع راهبران-

راهبری:(راه-بَ-ری)اسم- رهنمائی- هدایت- لاربنونه-

راهدار:(راه-دار)اسم صفت- مذکر- تانه دار- لاره ساتونکے- هغه څوک چې

د لارې باج يا محصول اخلي-

راهداري:(راه-دا-رې)اسم- لارپاته- د لارې يا پولې د تېرېدو اجازه ليک- د لارې يا سرحد نه د تېرېدو پاڼه-

راهرو:(راه-رَو)اسم- (۱)پېړۍ- سوب- تنګوړې- دالېز- دالان- کوشکن- (۲)د تېرېدو لاره- د تېرېدو ځاې- (۳)لاروې- لاربه-

راه روے:(راه-رَ-وے)اسم- په لاره تلونکے-

راهزن:(راه-زَن)اسم- لاره وهونکے- تاړ- راه ګير- داړه مار- شوکمار- هغه څوک چې خلق په لارو کښې شوکوي-

راهزني:(راه-زَ-نې)اسم- شوکه- شوکماري- داړه-

راهسکېدل:(را-هس-کې-دَل)مصدر لازم- راپاڅېدل- راولاړېدل- راجګېدل- (۲)راختل- راپورته کېدل- رابنکاره کېدل-

راهسکېدن:(را-هس-کې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ راهسکېدل-

راهسکېدنه:(را-هس-کې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ راهسکېدل-

راهسکېدونکے:(را-هس-کې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع راهسکېدونکي- مؤنث راهسکېدونکې- وګورئ راهسکېدل-

راهسکېده:(را-هس-کې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ راهسکېدل-

راهيت:(را-هيت)اسم صفت- (۱)محلت مشر- مالت مشر- کنديدار- کلانتر- د کلي مشر- (۲)ملک- خان-

راهيسته:(را-هيس-ته)حرف/متعلق فعل- راپه دېخوا- د متکلم حرا ته-

راهيسې:(را-هي-سې)حرف/متعلق فعل- له هغه وخته- له هغه راسې- د هغه رايسې- رايسې- رادېخوا-

راې:(راې)اسم- وګورئ رايه-

رايت:(راييت)اسم- (۱)رعيّت- ارلس- خلق- ملت- پرمان وړونکي خلق- د رعيّت يو قرأت- (افغانستان)- (۲)بيرغ- نښه-

رايټول:(را-يه-ټ-وَل)مصدر- ربټول- ايلول- تابع کول- خلق په خپل واک او اختيار کښې راوستل-

رايټون:(را-يه-ټ-ون)حاصل مصدر- وګورئ رايټول-

رايټونکے:(را-يه-ټ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رايټونکي- مؤنث رايټونکې- وګورئ رايټول-

رايټونه:(را-يه-ټ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ رايټول-

رايج:(رايج را-اج)اسم صفت- مروج- رواج شوے- عام شوے- جاري شوے- (م- عربي)-

رايستل:(را-يس-تل)مصدر- راايستل- راوبستل- د باندې خارجول-

رايستن:(را-يس-تن)حاصل مصدر- وګورئ رايستل-

رايستنه:(را-يس-تَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ رايستل-

رايستونکے:(را-يس-تُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رايستونکي- مؤنث رايستونکې- وګورئ رايستل-

راينسته:(را-ئيس-ته)حرف متعلق فعل- راهيسته- راينشته- رادېخوا- دېخوا ته دې پلو-

راينشته:(را-ئيش-ته)حرف متعلق فعل- وګورئ راينسته- راهيسته-

رايله:(را-يه-له)اسم صفت- راخوشے- ازاد- رها-

رايه:(را-يه)اسم- (۱)اند- فکر- راې- (۲)ګرومه- عقيده- اعتقاد- (۳)د زړه بصيرت-

رايېدل:(را-يې-دَل)مصدر- وګورئ ربېدل-

رانجول:(را-ئ-ج-وَل)مصدر متعدي- رواجول- عامول- جاري کول-

رانجونه:(را-ئ-ج-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ رانجول-

رانجه:(را-ئ-جه)صفت- ښه- اعلى- وړمه- خوشبو-

رانجېدل:(را-ئ-جې-دل را-اې-جې-دَل)مصدر لازم- (۱)رواجېدل- عامېدل- (۲)جاري کېدل-

رانجېدن:(را-ئ-جې-دن)حاصل مصدر- وګورئ رانجېدل-

رانجېدنګ:(را-ئ-جې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ رانجېدل-

رانجېدنه:(را-ئ-جې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ رانجېدل-

رانجېدونکے:(را-ئ-جې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رانجېدونکي- مؤنث رانجېدونکې- وګورئ رانجېدل-

رانجېده:(را-ئ-جې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ رانجېدل-

رائيګان:(را-ئي-ګان)اسم- (۱)ريړيا- مفت- (۲)ضايع- عبث- توی-

رانے:(رانے)اسم- (۱)وګورئ رايه- (۲)د لرغونی هند د واکمنانو لقب-

رانے ګيري:(رانے-ګي-ري)اسم- مؤنث- رايه اخيستنه- رايه ورکونه- راې ورکونه-

رَب:(رَب)اسم صفت- مذکر-پالونکے- پروردګار- د الله تعالى يو صفتي نوم-

ربا:(رِ-با)اسم- بياج- سود- سوانې- ګټه-

رباب:(رَ-باب)اسم- واحد- مذکر- (۱)د ساز يوه مشهوره آله- (۲)سپينه وريځ-

ربابي:(رَ-با-بي)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)رباب وهونکے- هغه څوک چې په رباب وهلو کښې مهارت لري- (۲)مستعد- د استعداد- د مهارت- جمع ربابيان-

رباعي:(رُ-با-عي)اسم- واحد- مونث- څلوريځه- دوبيتی- د شاعرۍ يو مخصوص صنف-

رباپ:(رَ-باپ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ رباب- جمع رباپونه-

رباط:(رِ-باط)اسم- پړاؤ- سراې-

رباني:(رَ-با-ني/رُب-با-ني)اسم صفت- (۱)رب ته منسوب- د رب- (۲)عارف- عابد- (م- عربي)-

ربانه:(رِ-با-نه)اسم- واحد- مؤنث- سپږمې-

ربپالے:(رب-پا-لے)اسم صفت- متقي- مُتقي- پرهېزګار- عابد- زاهد- عبادت کونکے-

www.pukhto.net

ربح:(رَ-بَح)اسم- گټه- نفع- مفاد- د پيسو گټه- تکتانه- بهره- سود-

ربده:(رَبْ-دَه)اسم- واحد- مؤنث- رشېبل- پاړو- رپېه- راشپېل- هغه ډ لرگي بناخي چي په درمن کښي پرې داتي بادولې شي- جمع ربدې-

رېږ:(رَ-بَږ)صفت- ستونځه- زحمت- کړاو- تکليف- عذاب- ربړه- زغفر-

رېږ:(رَ-بَږ)اسم- واحد- مذکر- د خښتي ونو د سلېښن ناکي مادي نه جوړېدونکې هغه څيز چي ټانروه وغيره ترې جوړولې شي- جمع ربړونه-

رېړا:(رَب-ړَا)اسم- (۱)ربړ- زيار- (۲)رياضت- په عبادات کښي زيار او زحمت کول-

رېړاو:(رَب-ړَاو)اسم- تکليف- ربړه- زحمت- کړاو- چېرچاړ- ربړونه- خورونه- ټونگ اچونه- بدرنگه کونه-

رېړژن:(رَبږ-ژَن)اسم صفت- سخت- گران- دروند-

رېړوکې (رَب-ړو-کې)اسم صفت- تورسدلې- تربدلې- پار شوې- تورخوړلې- (افغانستان)-

رېړول (رَب-ړَ-وَل)مصدر متعدي- کړول- په عذابول- په تکليف کول- په کړاو اخته کول- خورول- چېرچاړ کول-

رېړولې:(رَب-ړَ-وَ-لَې)اسم مفعول- جمع ربړولي- مؤنث ربړولې- وگورئ ربړول-

رېړون:(رَب-ړَ-وُن)حاصل مصدر- وگورئ ربړول-

رېړونکې:(رَب-ړَ-وُون-کې)اسم فاعل- جمع ربړونکي- مؤنث ربړونکې- وگورئ ربړول-

رېړونگ:(رَب-ړَ-وُنگ)حاصل مصدر- وگورئ ربړول-

رېړونه:(رَب-ړَ-وُ-نَه)حاصل مصدر- وگورئ ربړول-

رېړه:(رَب-ړَه)اسم- مناقشه- مجادله- جگړه- جنجال- ډ خلې جنگ او جگړه- شخړه- ربړ- زحمت- کړاو- ستونځه- جمع ربړې-

رېړي:(رَب-ړِي)اسم صفت- (۱)ربړيز- رابړي- ربړن- ربړ ته منسوب- هغه څه چي ربړ نه جوړ شوي وي- (۲)يو قسم خواړه چي د پيو نه جوړولې شي-

رېړيالې:(رَبړ-يا-لَې)اسم صفت- واحد- مذکر- زحمت کښ- زيارگالونکې- زيارايستونکې- (افغانستان)-

رېړيز:(رَب-ړِيز)اسم صفت- (۱)وگورئ ربړي- (۲)جنجالي- جگړه نې- جگړه نير- هغه څوک چي پېر جنجالي وي-

رېړينه:(رَب-ړِي-نَه)اسم صفت- واحد- مؤنث- له ربړ نه جوړه-

رېړېدل:(رَب-ړې-دَل)مصدر لازم- کړېدل- په کړاو اخته کېدل- په زحمت کېدل- خورېدل- عمېدل-

رېړېدلې:(رَب-ړې-دَ-لَې) اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ربړېدلي- مؤنث ربړېدلې- وگورئ ربړېدل-

رېړېدنگ:(رَب-ړې-دَنگ)حاصل مصدر- وگورئ ربړېدل-

رېړېدنه:(رَب-ړې-دَ-نَه)حاصل مصدر- وگورئ ربړېدل-

ربړېدونکې:(رَب-ړې-دُون-کې)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ربړېدونکي- مؤنث ربړېدونکې- وگورئ ربړېدل-

ربړېده:(رَب-ړې-دَه)حاصل مصدر او د ماضي استمراري ډ واحد غائب صيغه- وگورئ ربړېدل-

ربړېږن:(رَب-ړې-ږَن)اسم صفت- تکليف ورکونکې- زحمت ورکونکې-

ربرکې:(رَب-رَ-کې)اسم- يو قسم مارغه-

ربوکې:(رَب-وُ-کې)اسم صفت- خوارکې- بې وسه- ناتوانه- بې توانه- (افغانستان)-

ربط:(ربط)اسم- (۱)تړون- اړه- اړېکې- تړاو- (۲)تعلق- مېل جول- (۳)نسبت- (۴)دوستي- محبت-

ربع:(رُبع)اسم- (۱)څلورم- (۲)څلورمه حصه-

ربغړ:(رَب-غَړ رَب-غَړ)اسم- بال بچ- واړه زاړه- ټبر- کهول- زېل- ښځه خاوند او بال بچ-

ربغړ:(رَب-غَړ)اسم صفت- لغړ- بربنډ- مفلس- مؤنث ربغړه-

ربغړې:(رَب-غَ-ړې)اسم صفت- (۱)بربنډ- لغړ- لېړ- (۲)خوار- بې وزلې- غريب- مفلس-

ربل:(رَ-بَل)اسم صفت- (۱)منلې- قبول- (۲)خوښ- مقبول- زړه ته نژدې- زړه ته نږدې- (افغانستان)-

ربل:(رَ-بَل)اسم- (۱)پېرزوينه- لورينه- رواداري- (۲)ښه سلوک- ښه اخلاق- ښه رويه-

ربلول:(رَب-ل-وَل)مصدر متعدي- (۱)پېرزوينه کول- لورينه کول- رواداري کول- (۲)ښه سلوک کول- ښه گوزاره کول- (۳)منل- قبلول- خوښول- (افغانستان)-

ربلولې:(رَب-ل-وَ-لَې)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ربلولي- مؤنث ربلولې- وگورئ ربلول-

ربلون:(رَب-ل-وُن)حاصل مصدر- وگورئ ربلول-

ربلونکې:(رَب-ل-وُون-کې)اسم فاعل- جمع ربلونکي- مؤنث ربلونکې- وگورئ ربلول-

ربلونگ:(رَب-ل-وُنگ)حاصل مصدر- وگورئ ربلول-

ربلونه:(رَب-ل-وُ-نَه)حاصل مصدر- وگورئ ربلول-

ربلونې:(رَب-لو-نې)اسم- واحد- مذکر- بې موره گډورې- بې موره وزې- بې موره ورغومې- جمع ربلونې-

ربلېدل:(رَب-لې-دَل)مصدر لازم- خوښېدل- قبلېدل- لورېدل- پېرزو کېدل-

ربلېدلې:(رَب-لې-دَ-لَې)اسم مفعول- جمع ربلېدلي- مؤنث ربلېدلې- وگورئ ربلېدل-

ربلېدن:(رَب-لې-دَن)حاصل مصدر- وگورئ ربلېدل-

ربلېدنگ:(رَب-لې-دَنگ)حاصل مصدر- وگورئ ربلېدل-

ربلېدنه:(رَب-لې-دَ-نَه)حاصل مصدر- وگورئ ربلېدل-

www pukhto net

ربلېدونکے:(ر-ب-لې-دون-کے)اسم فاعل- جمع ربلېدونکی- مؤنث ربلېدونکې- وګورئ ربلېدل-

ربلېدهٔ:(ر-ب-لې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراری دُ واحد غائب صيغه- وګورئ ربلېدل-

ربنول:(ر-ب-ن-ول)مصدر متعدی- ربنول- ترول- تورول- ترمول- ويرول-

ربنولے:(ر-ب-ن-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ربنولی- مؤنث ربنولې- وګورئ ربنول-

ربنون:(ر-ب-ن-ون)حاصل مصدر- وګورئ ربنول-

ربنونکے:(ر-ب-ن-وون-کے)اسم فاعل- جمع ربنونکی- مؤنث ربنونکې- وګورئ ربنول-

ربنونګ:(ر-ب-ن-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ربنول-

ربنونه:(ر-ب-ن-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ربنول-

ربنېدل:(ر-ب-نې-دل)مصدر لازم- ترېدل- تورېدل- ترمېدل- ېارېدل- بېرېدل- ويرېدل- يرېدل-

ربنېدلے:(ر-ب-نې-د-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ربنېدلی- مؤنث ربنېدلې- وګورئ ربنېدل-

ربنېدن:(ر-ب-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ربنېدل-

ربنېدنګ:(ر-ب-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ربنېدل-

ربنېدنه:(ر-ب-نې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ ربنېدل-

ربنېدونکے:(ر-ب-نې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ربنېدونکی- مؤنث ربنېدونکې- وګورئ ربنېدل-

ربنېدهٔ:(ر-ب-نې-دهٔ)حاصل مصدر او دُ ماضي استمراری دُ واحد غائب صيغه- وګورئ ربنېدل-

ربنوکے:(ر-ب-نو-کے)اسم صفت- (۱)هوښيار او غښتلے ماشوم- (۲)ترهېدلے- ېار شوے- تورېدلے- بېربدلے-

ربنه:(ر-ب-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ربنی- تښته رنړا- لوه رنړا- دُ نمر لوه رنړا- (۲)پهٔ ورېځ کښې د سپوږمۍ رنړا- (۳)ورمه- نرے باد-

ربنېدل:(ر-ب-نې-دل)مصدر لازم- وګورئ ربنېدل-

ربنېدنه:(ر-ب-نې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ ربنېدل-

ربنېدهٔ:(ر-ب-نې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ ربنېدل-

ربنی:(ر-ب-نی)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ ربنه-

ربوبيت:(ر-بو-بی-يت)اسم- خدائی- الوهيت-

ربيت:(ر-بيت)اسم- يو قسم مېږ-

ربيع:(ر-بيع)اسم- (۱)پسرلے- ګرمونے- سپرلے- (۲)مسورتيا- (۳)دُ غنمو د فصل وخت-

ربيع الاول:(ر-بی-عل-أ-ول)اسم- لومړی خور- وړومبی خور- مشره خور- دُ قمری کال دريمه مياشت-

ربيع الثانی:(ر-بی-عث-ثا-نی)اسم- ربيع الآخر- دوهمه خور- ربيع الاول پسې مياشت- دُ قمری کال څلورمه مياشت-

ربينه:(ر-بی-نه)اسم- د غوږ پرده- پرده- (افغانستان)-

رپ:(رپ)اسم- (۱)رپا- رپېدنه- لړځېدنه- لرځېدنه- اهتزاز- خوزېدنه- (۲)خوځېدهٔ- حرکت-

رپ:(رپ)اسم- (۱)شېبه- لحظه- لږ وخت- آن- (۲)يودم- ژر-

رپ:(رپ)اسم- رپکے- موږه- رپک- توک بندی- پهٔ دېوال کښې لګېدلې تخته چې لوښی پرې اېښوے شی- رف خانه- رپکے-

رپا:(ر-پا)اسم- رپېدنه- وګورئ رپ-

رپارے:(ر-پا-رے)اسم- رپ- رپ رپے- لړزه- رپ رپ-

رپاړه:(ر-پا-ړه)اسم- د قميص ترخځ- ترخخه- هغه ټوټه چې قميص ء ارتولو يا پراخولو دُ پاره لګوی-

رپټ:(ر-پټ)اسم- رپوټ-

رپټ:(ر-پټ)اسم صفت- خربه- ايرابه- پهٔ ټوپک، تماچه يا مشين وغيره دُ وزو پوله پسې ايرابه-

رپک:(ر-پک)اسم- رپ- رپکے- توک بندی- وړوکے موږه- رف خانه-

رپکے:(ر-پ-کے)اسم- (۱)رپک- رپ- توک بندی- پهٔ دېوال کښې دُ لوښو اېښودلو موږه- (۲)تخت بام-

رپل:(ر-پل)اسم- ګوليدار ټوپک-

رپند:(ر-پند)اسم صفت- رپېدونکے- رپاند- رپندے-

رپندے:(ر-پن-دے)اسم- واحد- مذکر- (۱)رپ- لړزه- دهشت- ويره ترهه- هيبت- دُ ويرې لهٔ کبله رپندے لګېدنه- (۲)پندے چې ماشومان پکښې تار واچوی او بڼارے تری وباسی- (۳)د اوربل يو پسول-

رپنے:(ر-پ-نے)اسم صفت- (۱)موخه- وک- تر خلې پورې- تر څنډ ډلے- تر ژبو- مالامال- (۲)موړ-

رپو:(ر-پو)اسم- رفو- پنخړک- پيوند- دُ جامو شلېدلے ځائ ګنډنه

رپوټ:(ر-پوټ)اسم- اطلاع- خبر- جمع رپوټونه-

رپوټچی:(ر-پوټ-چی)اسم صفت- مخبر- جاسوس- رپوټی-

رپوټی:(ر-پو-ټی)اسم صفت- وګورئ رپوټچی-

رپول:(ر-پ-ول)مصدر متعدی- خوځول- ښورول- زمبول- ځمبول- اهتزاز ورکول-

رپولے:(ر-پ-و-لے)اسم معفول- واحد- مذکر- جمع رپولی- مؤنث رپولې- وګورئ رپول-

رپون:(ر-پ-ون)حاصل مصدر- وګورئ رپول-

رپونکے:(ر-پ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رپونکی- مؤنث رپونکې- وګورئ رپول

رپونګ:(ر-پ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ رپول-

رپونه:(ر-پ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ رپول-

رپهار:(ر-پ-هار)اسم- رپا- خوځېدهٔ- ښوربدهٔ- اهتزاز-

ربهر:(ر-بِه-هر)اسم- رَبِ- ربارے- ربندے- رپ ربے- دکاه- درګاه-

ربیده:(ر-بي-ده)اسم- ربیده- ربده- هغه منجیله چې ورېږی پخونکے یې د ورېږی پخولو په وخت استعمالوی- (افغانستان)-

رپېدل:(ر-پې-دل)مصدرِ لازم- (۱)ښوروېدل- خوځېدل- زمبېدل- خمبېدل- په اهتزاز راتلل- (۲)غپېدل-

رپېدلے:(ر-پې-دلے)اسم مفعول- جمع رپېدلی- مؤنث رپېدلې- وګورئ رپېدل-

رپېدن:(ر-پې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ رپېدل-

رپېدنګ:(ر-پې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رپېدل-

رپېدنه:(ر-پې-دنه)حاصلِ مصدر- وګورئ رپېدل-

رپېدونکے:(ر-پې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رپېدونکی- مؤنث رپېدونکې- وګورئ رپېدل-

رپېدهٔ:(ر-پې-دهٔ)حاصلِ مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ رپېدل-

رپے:(ر-پے)اسم- (۱)رپهار- رپېدنه- اهتزاز- ښورېدنه- خوځېدنه- (۲)برغ- ترغ- جبه-

رت:(رت)سابقه چې د صفت سره ونښلے شی او په معنی کښې زیاتے پیدا کوی-

رتبوی:(رت-بوی)متعلق فعل- (۱)د درجې- د منزلت- (۲)د مقام- د رتبې- د چوکی- هغه عدد چې رتبه او درجه ښائی-

رتبه:(رت-به)اسم- مؤنث- (۱)درجه- منزلت- (۲)څوکی- چوکی- مقام-

رت پت:(رت-پت)اسم صفت- کبړے کاږے- ګاږې وارې- روړے بړے- توټې توټې- شلېدلے شلېدلے- پاره پاره-

رتکیز:(رت-کیز)اسم صفت- ناپسند- ښکلے-

رتمه:(رت-مه)اسم- واحد- مؤنث- شوره غز- د غز یو قسم چې په شوره زمکه کښې کیږی- نباتاتی نوم ټمرېکس انډیکا (TAMARIX INDICA)-

رتی:(رتی)اسم- د ۱۱ ماشرو یو تال- (۲)رت- د ۲ ماشرو تال- (افغانستان)-

رتیب:(ر-تیب)اسم- د ردیف یو قرأت- ردیف- کتار- تیپ- چپل- کپر-

رتی لال:(ر-تی-لال)اسم- د جولاګی په رنګ یو زهرناکه حشره-

رتي پتي:(ر-تي-پتي)صفت- (۱)چیری ویری- چیرې پیرې- ریتي پیتي- تیکه تیکه- تکه تکه- ریتوړی ریتوړی- (۲)دړې دړې- دانې دانې- میده میده-

رتی:(رتی)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)د یوې رتې د تخم نوم چې د وزن د پاره بکاریږی- (۲)لږ شے- ډېر کم شے- کم مقدار- نوکه- (۳)د ماشې اتمه برخه وزن-

رټ:(رټ)اسم صفت- (۱)جوت- ښکاره- واضح- څرګند- (۲)سخت- کلک- (۳)د ژړا کیفیت-

رټ:(رټ)اسم- د اوښکو بهېدل- غټې غټې اوښکې بهېدنه-

رټ:(رټ)اسم صفت- شریر- فاسد- مضر-

رټ:(رټ)اسم صفت- راوتلے- بټ- بروق- رډ- د سترګو سره ونښلے شی-

رټ:(رټ)اسم- د شړی یا تنکیو د ناروغیو هغه حالت چې دانې راښکاره نهٔ شی- (افغانستان)-

رټ:(رټ)اسم- (۱)د نفی- د تردید- د رد- قطعی- سنغ- (۲)تکره

رټ بی:(رټ-بی)اسم- سحا بوی-

رټ پټ:(رټ-پټ)اسم- صفا- سکټ- ښکاره- څرګند-

رټتیا:(رټ-تیا)اسم- رټوالے- کلک والے- سخت والے- سنغ والے-

رټ رټ:(رټ-رټ)اسم- په غټو غټو سترګو- رډ رډ-

رټ رټ:(رټ-رټ)اسم صوت- د ژړا اواز-

رټ سترګے:(رټ-ستر-ګے)اسم صفت- بټې بټې سترګې لرونکے-

رټل:(ر-ټل)مصدرِ متعدی- (۱)اترټل- غندل- په خبرو سره تهدیدول- (۲)شړل- خفه کول-

رټل کوټل:(ر-ټل-کو-ټل)مصدر- خورل- رټل- کورېدل- ذړکه کول- چا ته کواټې او قهر کول- غرور راکښل- بدرد ونیل- سپورې سپنې ونیل- خبری کول- غندل- زیږې کول- چا ته ګورېدل-

رټلے:(ر-ټلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع رټلی- مؤنث رټلې- وګورئ رټل-

رټ مټ:(رټ-مټ)اسم- په څرګنده- رډ بډ- په صیغه- په ښکاره- په زغزده- صریحا-

رټن:(ر-ټن)حاصلِ مصدر- وګورئ رټل -

رټن:(ر-ټن)اسم صفت- خول حول- تکی تکی- خال خال- خاپ خاپ- چکی چکی- داغدار- ځیر ځیر-

رټنګ:(ر-ټنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رټل-

رټنه:(ر-ټنه)حاصلِ مصدر- وګورئ رټل-

رټنه ترټنه:(ر-ټنه-تر-ټنه)اسم حاصلِ مصدر- وګورئ رټل-

رټنه کوټنه:(ر-ټنه-کو-ټنه)اسم حاصل مصدر- زورنه- دبکه کونه- ویرونه- سترګې راوېستنه-

رټوالے:(رټ-والے)اسم- رډ بډوالے- صراحت- څرګندوالے-

رټول:(ر-ټول)مصدرِ متعدی- زیږل- سترګې کلکول- سترګې سپینول- په سترګو کښې ننوتل-

رټولے:(ر-ټولے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع رټولی- مؤنث رټولې- وګورئ رټول-

رټون:(ر-ټون)حاصلِ مصدر- وګورئ رټول-

رټونکے:(ر-ټون-کے)اسم فاعل- جمع رټونکی- مؤنث رټونکې- وګورئ رټول-

رټونګ:(ر-ټونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رټول-

رټونه:(ر-ټونه)حاصلِ مصدر- وګورئ رټول-

www.pukhto.net

رټه:(ر-ټه)اسم- واحد- مؤنث- ټېټه- سپېره- ښکاره- جوته- صریحه- صفته- جمع رټې-

رټې ټېټې:(ر-ټې-ټ-ټې)اسم- ردې بدې- سنغې سپورې- بده وینا- سپکه وینا-

رټېدل:(ر-ټې-دل)مصدر لازم- رپېدل- سترګې کلکېدل- سترګې سپینېدل- سرې کېدل- سرتمبه کېدل- ضد کول- خپل کول-

رټېدلے:(ر-ټې-د-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع رټېدلي- مؤنث رټېدلې- وګورئ رټېدل-

رټېدن:(ر-ټې-دن)حاصل مصدر- وګورئ رټېدل-

رټېدنګ:(ر-ټې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ رټېدل-

رټېدنه:(ر-ټې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ رټېدل-

رټېدونکے:(ر-ټې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رټېدونکي- مؤنث رټېدونکې- وګورئ رټېدل-

رټېده:(ر-ټې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ رټېدل-

رټې:(ر-ټې)اسم- واحد جمع- مؤنث- شړې-

رټې:(ر-ټې)اسم- واحد جمع- مؤنث- یو قسم واښه- (افغانستان)-

رجال:(ر-جال)اسم- جمع- سړی- وګړی- اشخاص- د رَجل جمع-

رجال الغیب:(ر-جا-لل-غیب)اسم- پېریان- جنات- غیب عالم-

رجا:(ر-جا)اسم- امره- طمع- تمه- امید-

رجب:(ر-جب)اسم- بزرګه- د خدایٔ تعالیٰ میاشت- بزرګه میاشت- لویه میاشت- د هجری قمری کال اوومه میاشت-

رُجحان:(رُج-حان)اسم- (۱)بانديې والے- بزرګ والے- لوړوالے- ترجیح- برتري- (۲)توجه-

رجرے:(رج-رے)اسم- واحد- مذکر- څپېکه- تباه لکه- ختکې-

رجرومه:(رج-رو-مه)اسم- واحد- مؤنث- لجېرمه- رنجوني- رجرومه- رنجومه- هغه وړه ګڅوړه چې رانجه پکښې ساتلے شي-

رجز:(ر-جز)اسم- ویاړنه- هغه شعرونه چې په جنګ کښې ویلے شي-

رجس:(ر-جس)اسم- (۱)ناولتیا- پلیتي- ګندګي- (۲) ګناه- وبال- (م- عربي)-

رجسټر:(رجس-ټر)اسم- یاداشت- روزنامچه- د حاضرۍ کتاب- جمع رجسټرونه-

رجسټري:(رجس-ټ-ري)اسم- د رجسټر سره متعلق-

رجعت:(رج-عت)اسم- راستنېدنه- راګرځېدنه-

رجعت پسند:(رج-عت-پ-سند)اسم صفت- رجعت خوښونکے- وګورئ رجعت-

رجعت پسندي:(رج-عت-پ-سن-دي)اسم- مؤنث- د رجعت پسند جوړېدو حالت- (م- عربي)-

رجل:(ر-جل)اسم- واحد- مذکر- سړے- جمع رجال- (م- عربي)-

رجم:(ر-جم)اسم- سنګسارونه- په تیږو یا ډبرو وهنه- (۲)کنځل کونه- ترټنه-

رجمنټ:(رج-منټ)اسم- په ۵۲۲ نوځیانو مشتمله یوه کمپني چې په یو بټالین کښې درې شاملې وي- (م- انګریزي)-

رجوع:(ر-جوع)اسم- (۱)مخ راګرځونه- بېرته راتلنه- بېرته راستنېدنه- مخه- (۲)علاقه- (۳)د رجعي طلاق فسخه کونه- (۴)هغه صنعت چې شاعر خپل تېر شوے کلام باطل کړي او بل مطلب ته د کلام د ښهٔ والي د پاره لاړ شي-

رجه:(ر-جه)اسم- (۱)هغه تار یا مزے چې خټګر یا ترکاڼ پر ټېټې او خطونه اچوي- (۲)ټیمه- (۳)دود- دستور- رواج-

رخه:(ر-خه)اسم- لاره- جاره- سړک- لار- وات- (افغانستان)-

رخ:(رخ)اسم- کېږه- د کور سامان-

رخ:(رخ)اسم- (۱)د جولاګانو د کېږې پوستګے- (۲)عیب- ضرر- نقصان- زیان- (۳)د خرادی آله- (۴)ډېو- (۵)ښاپېرۍ- پېرۍ- (۶)د کبانو یا ماهیانو د نیولو جال (تور)-

رخ:(رخ)اسم- (۱)رضه- مینه- خوښه- رضا- (۲)حرص- تلوسه- شوق- (۳)آرزو- ارمان- (۴)سوده شوے غوټے- هغه غوټے چې د وېرو ګرځېدو له کبله یې د پیڅو سموته سولېدلې وي- (افغانستان)-

رخ رخ:(رخ-رخ)اسم صفت- ریچي ریچي- بسمي بسمي- ذرې ذرې-

رخکے:(رخ-کے)اسم- څرخ- څرخنے- هغه تار یا رسۍ چې غنډاری شوی وي- سمندخ شوې وړې یا تار- (افغانستان)-

رخکانے:(رخ-کا-نے)اسم- د خرادی د آلې تیږه- د خرادی د آلې کاڼے- (افغانستان)-

رخکان:(رخ-کان)اسم- نوکري- خراد-

رخنے:(ر-خ-نے)اسم- خراد- هغه آله یا سړے چې خرادي کوي- (افغانستان)-

رخه:(ر-خه)اسم- واحد- مؤنث- ریچه- د سپرو یو ډېر وړوکے قسم چې د کندکۍ له وجې په سر کښې پیدا کیږي- جمع رخې-

رخه:(رڅ-ه)اسم- واحد- مؤنث- پلوشه- نوکے- وړانګه- چوک- ذره- هغه وړه ذره چې د نمر په شغلو کښې لیدے شي-

رخي رخي:(ر-خي-ر-خي)اسم صفت- ریچي ریچي- بسمي بسمي- ذره ذره-

رخ:(رخ)اسم صفت- کږے- هغه سړے چې یو پښه یې کږه وي او ګډ ګډ ګرځي یا په خان پسې پښه راکاږي-

رڅا:(ر-څا)اسم- سوره-

رڅکېدل:(رڅ-کې-دل)مصدر- رڅے کېدل- رڅېکېدل- څکول- څڅول- په ځمکه راکېدل او کشول- (افغانستان)-

رڅه:(ر-څه)اسم- واحد- مؤنث- پیه- ژغورنه- خان ساتنه- (افغانستان)-

رڅېکېدل:(ر-څې-کې-دل)مصدر- رڅکېدل- څکول- کشول- په راکښلو او کشولو سره د یو شي وړل- (افغانستان)-

رڅېکنلے :(رَ-څي-کښَنلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع رڅېکنلی- مؤنث رڅېکنلې- وګورئ رڅېکنل-

رڅېکنن:(رَ-څي-کښَن)حاصل مصدر- وګورئ رڅېکنل-

رڅېکنګ :(رَ-څي-کښَنګ)حاصل مصدر- وګورئ رڅېکنل-

رڅېکنه:(رَ-څي-کښَنه)حاصل مصدر- وګورئ رڅېکنل-

رڅېکنونکے :(رَ-څي-کښَون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رڅېکنونکی- مؤنث رڅېکنونکې- وګورئ رڅېکنل-

رحلت:(رِح-لَت)اسم- (۱)تلنه- تګ- لېږدېدنه- کوچېدنه- (۲)مرګ- وفات- لهٔ دنیا نه تلنه- (کرل کېدل مصدرونه)-

رحم:(رَ-حَم)اسم- زړهٔ سوے- زړهٔ خوږېدنه- لُور- زړهٔ خوږونه- مهربانی- (م- عربی)-

رحم:(رَ-حَم)اسم- زیلان- زیلانځ- توملنه- دَ ښځې پهٔ خېټه کښې هغه ځایَ چې اولاد پکښې وی- (م- عربی)-

رحمان:(رَح-مان)اسم صفت- (۱)رحمن- بخښونکے- دَ الله تعالیٰ صفتي نوم- (م- عربی)- (۲)دَ پښتو ژبې یو مشهور صوفي شاعر-

رحماني:(رَح-ما-ني)اسم- د رحمان سره متعلق- رحمان ته منسوب- (م- عربی)-

رحمت:(رَح-مت)اسم- (۱)بخښنه- (۲)لورینه- (۳)مهربانی- فضل- رحم- (م- عربی)-

رحم درخواست:(رَحَم-دَر-خواست)اسم- هغه درخواست چې دَ سزا دَ معاف کولو دَ پاره صدر ته وړاندې کولے شی-

رحمېدلے :(رَح-مي-دَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع رحمېدلی- مؤنث رحمېدلې- وګورئ رحمېدل-

رحمېدن:(رَح-مي-دَن)حاصل مصدر- وګورئ رحمېدل-

رحمېدنګ:(رَح-مي-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ رحمېدل-

رحمېدنه:(رَح-مي-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ رحمېدل-

رحمېدونکے :(رَح-مي-دَون-کے)اسم فاعل- جمع رحمېدونکی- مؤنث رحمېدونکې- وګورئ رحمېدل-

رحمېدهٔ:(رَح-مي-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ رحمېدل-

رحیل:(رَحیل)اسم- کوچ- لېږد- یون-

رحیم:(رَحیم)اسم صفت- رحم کونکے- مهربان- بخښونکے- د الله تعالیٰ یو صفتي نوم-

رُخ:(رُخ)اسم- (۱)مخ- څېره- شکل- (۲)راکې- دَ آس جلو- (۳)پلو- لورے- خوا- طرف- (۴)دَ شطرنج پهٔ لوبه کښې هغه دانه چې دَ تختې پهٔ کُنج کښې اېښودل کېږی- (۵)سیمرغ- د یو افسانوی مارغهٔ نوم- (۶)سمے- برابرے-

رَخ:(رَخ)اسم- جری- رښه- خط- کرښه- هغه کرښه چې دَ ټوپک دَ شپېلی پهٔ دننی برخه کښې کېندل شوې وی-

رخ:(رخ)اسم- واحد- مذکر- د غلېبر سورے- د تلېبر سورے- د پښو موری- د حوض موری- دَ جوړې موری- هغه سورے چې لهٔ پښو ځخه تری اُبهٔ وځی-

رخ:(رخ)اسم صفت- رخه ناک- رخن- حسود- حاسد-

رُخ:(رخ)اسم- واحد- مذکر- (۱)رُخ- هغه جوړه کړې لاره چې پټی ته پرې اُبهٔ ورکولے شی- (۲)دَ تاش دَ لوبې دَ یوې مرحلې نامه-

رخام:(ر-خام)اسم- سپینه او نرمه ډبره- (افغانستان)-

رخپته:(رخ-پ-ته)اسم- یو ډول د غرهٔ بوټے چې پوخ او اَوم خوړلے شی-

رخپین:(رخ-پین)اسم- مذکر- تروکے- رخپین- کوړتوبه- د خټکېدلو شوملو تینګه ماده چې تنکولی، د ستونی درد او ګرمی د پاره استعمالولے شی-

رخپین:(رخ-پین)اسم- مذکر- وګورئ رخپین-

رخت (رخت)اسم- مذکر- (۱)خرمن- پخه خرمن- (۲)سامان- ټوکے- ټوکر- ټوټه- لباس- جامې- کالی-

رخت:(رخت)اسم- پال- سپاره- سپاره- سپور-

رخت باب:(رخت-باب)اسم- مذکر- د رخت- د ټوکرانو- په رخت یا ټوکرانو مربوط-

رختخواب:(رخت-خاب)اسم- مذکر- (۱)چادرشو- برغبند- بوغبندپېچ- (۲)هغه بروستن، نالی یا بالښت چې پهٔ بوغبند کښې پېچلی وی-

رخچینه:(رخ-چي-نه)اسم- مؤنث- (۱)یو ډول خولی چې پخوا به ښځو به سرکوله- (۲)هغه ټوکر چې پهٔ اس بلندی دَ خولو جذب کولو دَ پاره ترلے کېږی-

رخدار:(رخ-دار)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- رُخ لرونکے- رخې رخې- هغه شے چې رخی (جری) لری-

رخدار ټوپک:(رخ-دار-ټو-پک)اسم- واحد- مذکر- د ټوپک یو قسم- هغه ټوپک چې شپېلی کښې یَ پینځهٔ رخونه وی- رخدور-

رخدور:(رخ-دور)اسم- واحد- مذکر- وګورئ رخدار ټوپک-

رخړل:(رخ-ړل)مصدر- ریحل- ریخ رخل- بیېدل- بهېدل-

رخړن:(رخ-ړن)حاصل مصدر- وګورئ رخړل-

رخړنه:(رخ-ړنه)حاصل مصدر- وګورئ رخړل-

رخړونکے :(رخ-ړون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رخړونکی- مؤنث رخړونکې- وګورئ رخړل-

رخړی:(رخ-ړی)اسم صفت- بهېدلے-

رخس:(رخس)اسم- مذکر- رقص- نڅا- ګډا- ډانس- (عامیانه قرأت)-

رُخسار:(رُخ-سار)اسم- مذکر- غومبورے- اننګے- باړخو- بارخو- نفور- سرهٔ روتی- جمع رُخسارونه- (م- فارسی)-

رخسول:(رخ-س-ول)مصدر- رقصول- ګډول- نڅول- (عامیانه قرأت)-

رخسولے :(رخ-س-ولے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع رخسولی- مؤنث رخسولې- وګورئ رخسول-

ئ: (ئی-رل)، ې (مې-ره-ول)، ی (پیا-لي)، ے (تن-دے)؛ تفصیل دَ پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

رحسون:(رَ-حْ-سَ-ون)حاصل مصدر- وګورئ رحسول-

رحسونګ:(رَ-حْ-سَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ رحسول-

رحسونه:(رَ-حْ-س-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ رحسول-

رحسونکے:(رَ-حْ-س-وون-کے)اسم فاعل- جمع رحسونکی- مؤنث رحسونکې- وګورئ رحسول-

رخشان:(رَخ-شان)اسم صفت- پرقېدونکے- روښانه- ځلېدونکے- (م- فارسی)-

رخشت:(رَ-خشت)اسم- چړېدلے- رخړېدلے- رېخېدلے- د نسه بېېدلے- بهېدلے- هغه خاروے چې رویخېږي-

رخصت:(رُخ-صت)اسم- (۱)اجازت- رسحت- اجازه- (۲)دستور-

رخصتول:(رُخ-ص-ت-ول)مصدر- رسحتول- اجازه ورکول- اجازت ورکول- (۲)شړل- لۀ کاره استل-

رخصتون:(رُخ-ص-ت-ون)حاصل مصدر- وګورئ رخصتول-

رخصتونکے:(رُخ-ص-ت-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رخصتونکي- مؤنث رخصتونکې- وګورئ رخصتول-

رخصتونګ:(رُخ-ص-ت-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ رخصتول-

رخصتونه:(رُخ-ص-ت-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ رخصتول-

رخصتي:(رُخ-ص-تي)اسم- مؤنث- هغه رسم چې د جینۍ د وادۀ په وخت جینۍ جهلو کېدونکي جهلوانو ته سپارلے شي- ډولۍ ورکونه-

رخصتي:(رُخ-ص-تي)اسم- (۱)د ازادۍ ورځ- د تعطیل ورځ- د کار نۀ کولو ورځ- (۲)رخصت- رسخت-

رخصتېدل:(رُخ-ص-تې-دل)مصدر- رسختېدل- رسخت کېدل- رُخصت کېدل- (۲)شړل- لۀ کاره وتل-

رخصتېدلے:(رُخ-ص-تې-دَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع رخصتېدلي- مؤنث رخصتېدلې- وګورئ رخصتېدل-

رخصتېدن:(رُخ-ص-تې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ رخصتېدل-

رخصتېدونکے:(رُخ-ص-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رخصتېدونکي- مؤنث رخصتېدونکې- وګورئ رخصتېدل-

رخصتېدنګ:(رُخ-ص-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ رخصتېدل-

رخصتېده:(رُخ-ص-تې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ رخصتېدل-

رخصتېدۀ:(رُخ-ص-تې-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ رخصتېدل-

رحل:(رَحَل)اسم- واحد- مذکر- رحې رښل- د قرآن شریف د تلاوت په وخت پکاروېکې د لرګي هغه آله چې قرآن شریف پکښې په ادب سره پروت وي-

رخن:(رَخَن)اسم صفت- واحد- مذکر- رخه ناک- حاسد- کینه ناک- حسود- حسد کونکے- رخندوکے-

رخن:(رخن)اسم- ابره- خاصل-

رخن:(رَ-خَن)اسم صفت- واحد- مذکر- ریخن- په آسهال مبتلا- هغه سړے چې دستونه او اطلونه پرې لګېدلي وي-

رخندوکے:(رَ-خن-دو-کے)اسم صفت- وګورئ رخن ۱-

رخنه:(رَخ-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)درز- چاود- سورے- (۲)ګرت- (۳)خونه-

رخنه:(رَخ-نه)اسم- واحد- مؤنث- عیب- فساد- (م- فارس)-

رخنه ګر:(رَخ-نه-ګر)اسم صفت- مذکر- فسادی- عیبي-

رخه:(رَ-خه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وګورئ رخ- (۲)رجه- نقشه- خط اچونه- جمع رخې-

رخه:(رَ-خه)اسم- واحد- مؤنث- حسد- بدخواهي- کسے- قصد- غوږ- اروږ-

رخه:(رَ-خه)اسم- واحد- مؤنث- د زړۀ سوے- ترحم- جمع رخې-

رخېل:(رَخ-ېل)مصدر متعدی- سر خړول- خړيل- خرېيل- ګلول- کتېيل-

رخے:(رَ-خے)اسم صفت- (۱)دښمن- مخالف- وزغوسے- سوزېدونکے- مېرګمن- رخه ناک- رخن- حاسد- حسود- (۲)د ځلېر سورے- د پنو موری-

رَد:(رَد)اسم- واحد- مذکر- (۱)طرف- لورے- خوا- پلو- غاړه- (۲)تېرېدنه- ملمه-

رد:(رد)اسم- مخی ورګرځونه- ردونه- تمبونه- مستردونه- خرابونه- تردید- ورګرځونه- ورجوابونه- نۀ قبلونه- نۀ منه- انکار- باطلونه- پربشونه-

ردبېے:(رد-ب-بېے)اسم- د اسمان کتے- د اوز ستورو جومبک-

ردغ:(ر-دغ ردغ)اسم صفت- رخ- کسے- چپے- چپ لاسے-

ردوبد:(رَد-و-بد)اسم- (۱)ګډی وډی- سپکې سپورې- ردې بدې- (۲)کنځلې- بکنځلې- زیاړې-

ردوبدل:(رَد-و-ب-دل)اسم- (۱)الاندې باندې- تېروبېر- نۀ مخامخ کېدنه- (۲)عوض و معاوضه- بدلونه- تبادله- یو لۀ بل سره بدلونه-

ردول:(رَ-دَ-ول)مصدر متعدی- (۱)رد کول- مستردول- تمبول- ورګرځول- تردیدول- (۲)نفی کول-

ردون:(رَ-دَ-ون)حاصل مصدر- وګورئ ردول-

ردونکے:(رَ-دَ-وون-کے)اسم فاعل- جمع ردونکی- مؤنث ردونکې- وګورئ ردول-

ردونګ:(رَ-دَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ردول-

ردونه:(رَ-دَ-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ ردول-

رده:(رَ-ده)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پخښه- موره- بنیاد- (۲)لاره- لار- قطار- قطـ-

ردي:(رَ-دي)اسم صفت- رد شوے- باطل- منسوخ- لۀ کاره وتلے- بې کاره- لۀ ښې وتلے-

ردیف:(رَ-دیف)اسم- واحد- مذکر- (۱)کېږ- قطار- ګېره- (۲)پسی شاه پشی شاه- ترڅنګ- (۳)غبرګ سوارۀ- دوه سوارۀ- (۴)د غزل، قصیدې وغیره هغه توري چې د قافیې نه پس بیا بیا راځي- جمع ردیفونه-

ردېدل:(رَ-دې-دَل)مصدر لازم- (۱)جوابېدل- مستردېدل- ځوابېدل- (۲)مرتدېدل- مرتد کېدل- لۀ دینه ګرځېدل- (۳)نفی کېدل- باطلېدل-

زور (ح-مۀ-ره)، زورکے (شل)، پېښ (پو-کا-ره)، زور (ک-ناب)، حزم (شکون)، ټ (ر-ي-ه)، ټه (پو-مبې-دهٔ)

www.pukhto.net

منسوخېدل- لۀ بنې وتل- لۀ کاره وتل-

رږېدلے :(رَ-دي-دَلے)اسمِ مفعول- واحد- مذکر- جمع رږېدلی- مؤنث رږېدلې- وګورئ رږېدل-

رږېدن:(رَ-دي-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ رږېدل-

رږېدنګ:(رَ-دي-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رږېدل-

رږېدنه:(رَ-دي-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ رږېدل-

رږېدونکے:(رَ-دي-دُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع رږېدونکی- مؤنث رږېدونکې- وګورئ رږېدل-

رږېدهٔ:(رَ-دي-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ رږېدل-

رړ:(رړ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)وَچ سترګے- سپین سترګے- کلک سترګے- (۲)رند- راوتلے- بټ سترګے- (۳)ښکاره- څرګند- (۴)سرټمبه- سرټمبه- پهٔ خپله خبره ټینګ- سرکش- ضدی- خیر-

رړبړ:(رړ-بړ)اسم صفت- ښکاره- جوت- څرګند- صریح- واضح- سپین-

رړ پهٔ رړه (رړ-پهٔ-رړه)متعلق فعل- مخ پهٔ مخ- مخامخ- نیغ- ښکاره- رړبړ- جوت- څرګند- (افغانستان)-

رړسترګے:(رړ-ستر-ګے)اسم صفت- واحد- مذکر- تاغ سترګے- بټ سترګے- بوړ سترګے-

رړول:(رَ-ړ-وَل)مصدرِ متعدی- (۱)ښکاره کول- جوتول- (۲)نیغول- شخول- سترګې سپینول-

رړولے:(رَ-ړ-وَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع رړولی- مؤنث رړولې- وګورئ رړول-

رړون:(رَ-ړ-ون)حاصل مصدر- وګورئ رړول-

رړونکے:(رَ-ړ-وون-کے)اسم فاعل- جمع رړونکی- مؤنث رړونکې- وګورئ رړول-

رړونګ:(رَ-ړ-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رړول-

رړونه:(رَ-ړ-ونه)حاصلِ مصدر- وګورئ رړول-

رړېدل:(رَ-ړې-دَل)مصدرِ لازم- رنړېدل- څرې کېدل- ښې کلکول- ښې خرېیل- څره ښه کېدل-

رړېدلے:(رَ-ړې-دَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع رړېدلی- مؤنث رړېدلې- وګورئ رړېدل-

رړېدن:(رَ-ړې-دِن)حاصلِ مصدر- وګورئ رړېدل-

رړېدنګ:(رَ-ړې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رړېدل-

رړېدنه:(رَ-ړې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ رړېدل-

رړېدونکے:(رَ-ړې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رړېدونکی- مؤنث رړېدونکې- وګورئ رړېدل-

رړېدهٔ:(رَ-ړې-دهٔ)حاصلِ مصدر او د ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ رړېدل-

رړی:(رَ-ړی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- مرړی- مرړوړ- مرړوړی- دَ ټوپک لته کش- هغه مزے چې دَ ټوپک شپلی پرې پاکیږی- (افغانستان)-

رړے:(رَ-ړے)اسم صفت- واحد- مذکر- تاغ- بوغ- تاغې تاغې سترګې لرونکے- بټ سترګے- بوړ سترګے- جمع رړیان-

رړے:(رَ-ړے)اسم- واحد- مذکر- کیکر- رېدے- دَ رېدی ګل- یو قسم ګل- جمع رړی-

رذالت:(رَ-ذا-لَت)اسم- واحد- مذکر- پستی- پستیا- کچوتی- کچکی- ناکسی- سپیتانه- (م- عربی)-

رذاله:(رَ-ذا-له)اسم صفت- کمینه- پاسو- سپک- رذیل- (م- عربی)-

رذیل:(رَ-ذیل)اسم صفت- پست- کچه- کچوت- فاسد- سپک- ناکس- رذاله- (م- عربی)-

رذیلانه:(رَ-ذی-لانه)اسم- دَ رذالت- دَ رذیلتوب- دَ رزالت پهٔ طور-

رذیلتوب:(رَ-ذیل-توب)اسم- دَ رذیل کارکردګی- بدذاتی- ورانے-

رړی (ر-ړی)اسم- واحد- مؤنث- شړی- د بکیانې بچې- د بکیانې یا شړی دانې- بچې-

رز:(رز)اسم- (۱)خیلی- تاک- دَ انګور وُنه- مېلوه- (۲)کندېر- (۳)بڼ- باغ- (م- فارسی)-

رزاق:(رَ-زاق/رَز-زاق)اسم صفت- مذکر- (۱)د الله تعالی یو صفتی نوم- (۲)روزي ورکونکے- رازق- روزی رسان- (م- عربی)-

رزق:(رِزق/رِ-زق)اسم- روزی- روټی- خوړمه- خوراک- رزی- شومه- (م- عربی)-

رزق روزی:(رِ-زق-رو-زی)اسمِ مرکب- نان نفقه- روزی- رزق-

رزم:(رَ-زم)اسم- واحد- مذکر- جنګ- جګړه- شخړه- جیګاړ-

رزمته:(رز-مَته)اسم- واحد- مؤنث- (۱)شومه- ورځنی خوراک- ارګانه- ورځنی جیره- دَ یوهٔ وخت روټی- (۲)بسنه- بسیا- هومره تنخواه چې دَ یوې کورنۍ دَ پاره بس وی-

رزمی:(رز-مي)اسم- دَ جنګ- دَ حماسې- دَ جګړې- ایپک-

رزمیه:(رز-می-یه)اسم صفت- دَ رزم سره متعلق- چې پکښې دَ جنګ بیان وی-

رژ:(رژ)اسم- ریژ- د لیمونی سپی ناروغی- دَ لیمونی سپی دَ داړلو نه پېدا کېدونکې بیماری- (افغانستان)-

رژند:(رَ-ژند)اسم صفت- مذکر- (۱)رژېدونکے- توښېدونکے- رېژېدونکے- (۲)کوليېدونکے- هغه منجمد شے چې مېده کیږی یا رژیږی-

رژول:(رَ-ژ-وَل)مصدرِ متعدی- (۱)رېژول- (۲)کولول- دوړول- مېده مېده کول-

رژولے:(رَ-ژ-وَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع رژولی- مؤنث رژولې- وګورئ رژول-

رژون:(رَ-ژ-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ رژول-

رژونکے:(رَ-ژ-وون-کے)اسم فاعل- جمع رژونکی- مؤنث رژونکې- وګورئ رژول-

ی (غی-رل)، ي (مي-ره-وزل)، ی (پیاسلی)، ې (تن-مدیې) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

رژونګ:(رَ-ژُ-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رژول-

رژونه:(رَ-ژُ-ونَه)حاصلِ مصدر- وګورئ رژول-

رژېدل:(رَ-ژې-دَل)مصدرِ لازم- (۱)تویېدل- ویژېدل- رالوېدل- تلېدل-
(۲)ميده کېدل- دوړېدل-

رژېدلے:(ر-ژې-دَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع رژېدلي- مؤنث
رژېدلې- وګورئ رژېدل-

رژېدن:(ر-ژي-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ رژېدل-

رژېدنګ:(ر-ژي-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رژېدل-

رژېدنه:(رَ-ژي-دَنَه)حاصلِ مصدر- وګورئ رژېدل-

رژېدونکے:(ر-ژي-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع رژېدونکي- مؤنث
رژېدونکې- وګورئ رژېدل-

رژېده:(ر-ژي-دَه)حاصلِ مصدر او د ماضی استمراری دُ واحد غائب صيغه-
وګورئ رژېدل-

رس:(رَس)اسم- (۱)روزي- خوارځه- آزوغه- آذوقه- (۲)مرسته- (۳)رِنځ- يو
قسم يوناني دارو-

رس:(رَس)اسم- جوهر- ګوز- اُرغ- عرق- نچوړ-

رس:(رَس)اسم صفت- واحد- مذکر- کېږو- خېټور- ګېډور- نس پړس- هغه
ګوک چې تر حده زيات خوراک کوي-

رس:(رَس)اسم- واحد/جمع- مؤنث- يو قسم خاوره چې که اُبو سره يو ځاي
شي نو يوه نښلېدونکي خميره تری جوړېږي- (افغانستان)-

رسا:(رَ-سا)اسم صفت- (۱)بالغ- رسېدلے- (۲)لوړ- (۳)سم- درست- سيخ-
نيغ- په نښه-

رسالت:(رِ-سا-لت)اسم- خبر رسونه- پيغام رسونه- اطلاع ورکونه- پيغمبري-
استاځي توب- (عربی)-

رسالدار:(رِ-سال-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- دُ رسالې افسر- جمع
رسالداران-

رساله:(رِ-سا-لَه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وړه مجموعه ووړکے کتاب-
(۲)ليک- مکتوب- (۳)دُ سورو يوه پله يا يوه قطعه- جمع رسالې-

رسالينډے:(رِ-سا-لين-ډے)اسم صفت- واحد- مذکر- لينډی وېښتونکے-
لينډور- بنډ غښے وېښتونکے- نښه وېشتونکے- هغه ګوک چې ښه نښه ولي-

رسام:(رَ-سام)اسم- واحد- مذکر- انځورګر- ګېره کښونکے- ګېره کښ- رسم
کښونکے- رسم کونکے- رسم اېستونکے- دُ رسم ماهر- نقش کونکے-
کښيدیار- کښيدګر- (عربی)-

رسامي:(رَ-سا-مي)اسم- کشيده کاري- انځورګري- نقاشي- کښيدیاري-
(عربی)-

رستګاري:(رَست-ګا-ري)اسم- خلاصے موندنه- نجات موندنه- ژغورنه-

رستم:(رُس-تم)اسم- پهلوان- د رستم د نامې په مناسبت-

رستمي:(رُس-تَمي)اسم- مؤنث- بهادري- نګړه توب-

رستوران:(رِس-تو-ران)اسم- واحد- مذکر- رېسټورنټ- هغه ځاي چې خوراک
څښاک پکښې خرڅېږي- (افغانستان)- (م- انګريزی)-

رسته:(رَس-تَه)اسم- واحد- مؤنث- ړده- کيله- قطار- صف- کېږ- ګېړه- لين-

رسد:(رَسَد)اسم- (۱)برخه- حصه- ونډه- قسمت- پڅے- (۲)دُ خوراک دُ
څيزونو رسېدنه- خرڅه- (۳)د لو وخت- دُ حاصل وخت- دُ اېرې وخت-
(۴)کومک- امداد-

رسليک:(رَس-ليک)اسم- رسيد- پاروخطے- سَند- تمسک- (افغانستان)-

رسم:(رَسم)اسم- واحد- مذکر- دود- رواج- دستور- عرف- عادت- عنعنه-
قاعده- جمع رسمونه-

رسم:(رَسم)اسم- (۱)انځور- تصوير- دُ يو شي صورت- (۲)پهُ هندسه ئ
قواعدو سره دُ تصويرونو ايجادونه-

رسم:(رَسم)اسم- دُ يوسو نه پاکه شوی رشه- هغه پاکه غله چې دُ يوسو نه
وتلې وی- هغه درمند چې راټل شوے وی-

رسم الخط:(رَس-مل-خَط)اسم- ليک دود- معياری ليک- دُ يوې ژبې دُ ليکلو
طريقه-

رسمول:(رَس-مَ-ول)مصدر- رسم اېستل- رسم کښل- انځورول- ګېره يا منظر
کښل-

رسمون:(رَس-مَ-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ رسمول-

رسمونکے:(رَس-مَ-ون-کے)اسم فاعل- جمع رسمونکي- مؤنث رسمونکې-
وګورئ رسمول-

رسمونګ:(رَس-مَ-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رسمول-

رسمونه:(رَس-مَ-ونَه)حاصلِ مصدر- وګورئ رسمول-

رسمونے:(رَس-مو-نے)اسم- ګونډی مال- پالمال- پايخور- دُ غنمو هغه
ګونډے چې دُ رشې پاکېدو په وخت کښې لواړ پاتې شي-

رسمي:(رَس-مي)اسم- (۱)دُ رسم سره متعلق- په رواجي پول- (۲)حکومتي-
دولتي- سرکاري- په دولتي چارو مربوط- د غير رسمي مقابل-
(افغانستان)-

رسميت:(رَس-مي-يت)اسم- رسمي جنبه لرنه- هغه څه چې رسمي اړخ يا جنبه
لري- (افغانستان)-

رسمېدل:(رَس-مي-دَل)مصدر- انځورېدل- تصويرېدل- د يو شي صورت يا
ګېره کښل کېدل-

رسمېدلے:(رَس-مي-دَلے)اسم مفعول- جمع رسمېدلي- مؤنث رسمېدلې-
وګورئ رسمېدل-

رسمېدن:(رَس-مي-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ رسمېدل-

رسمېدنګ:(رَس-مي-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رسمېدل-

رسمېدنه:(رَس-مي-دَنَه)حاصلِ مصدر- وګورئ رسمېدل-

رسمېدونکے:(رَس-مي-دُون-کے)اسم فاعل- جمع رسمېدونکي- مؤنث
رسمېدونکې- وګورئ رسمېدل-

www.pukhto.net

رسمېدهٔ:(رس-مې-دهٔ)حاصلِ مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ رسمېدل-

رسند:(رَ-سَند)اسم- (۱)د تاوي د آس مخصوص جلو- (۲)هغه رنګدار دسمال چې خسرګنې ې د زوم د آس د غاړې د پاره ورکوي- (افغانستان)-

رسوا:(رس-وا)اسم صفت- (۱)بدنام- پکړی- اشوا- بې آبرو- لوڅ- شرمنده- خوار- ذليل- (۲)معلوم- ښکاره- بنکاره- جوت-

رسوائي:(رس-وا-ئي)اسم- بدنامي- بې عزتي- موزري- ذلت- پکړې کېدهٔ- اشوائينه- لوڅېدهٔ (۲)ښکاره کېدنه- افشا کېدنه- جوتېدنه-

رسوب:(رَ-سوب)اسم- خړه- خړوبے- کونوبے- ختېل-

رسوبي:(رَ-سو-بي)اسم- دَ رسوب- پهٔ رسوب مربوط- دَ ختېل- پهٔ ختېل مربوط- دَ کونوبي- (افغانستان)-

رسوخ:(رُ-سوخ)اسم- (۱)مخ روني- اعتبار- عزت- منلتيا- (۲)ثابت- ټينګ- محکم- استوار- مضبوط-

رسول:(رَ-سول)اسم صفت- پېغمبر- دَ خدایٔ استاځے- (۲)استاځے- قاصد- هغه څوک چې دَ خدایٔ پېغام مخلوق ته رسوي- (م- عربي)-

رسول:(رَ-س-ول)مصدر- (۱)ورل- سپارل- (۲)تر سره کول- تر اخره کول- پائ ته رسول- (۳)لوړول- جګول- لوړ مقام ته پورته کول-

رسولي:(رسو-لي)اسم- واحد جمع- مؤنث- رسوري- هغه عوته چې د لاسونو يا پښو پهٔ ګتو کښې يا پهٔ کېډه کښې راخيژي-

رسوم:(رُ-سوم)اسم- د رسم جمع- دودونه- رواجونه- عادتونه-

رسون:(رَ-س-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ رسول-

رسونګ:(رَ-س-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رسول-

رسونه:(رَ-س-ونه)حاصلِ مصدر- وګورئ رسول-

رسونکے:(رَ-س-ون-کے)اسم فاعل- جمع رسونکي- مؤنث رسونکې- وګورئ رسول-

رسه:(رَسه)اسم- غټ پړے چې ګاروي پرې تړلے شي- رسی-

رسيد:(رَ-سيد)اسم- واحد- مذکر- سند- رسليکه چيټي- پاروخط- هغه ليکنه چې څوک ې دَ پېسو، جائيداد يا بل څهٔ شي دَ تر لاسه کولو وروستو بل چا ته ورکوي- جمع رسيدونه-

رسيده:(رَ-سين-ده)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- رسېدونکے- محوريز- د خلې د پربکړې څښتن- دَ سر سړے- سپين رويے- بارسوخه- معتبر- هغه څوک چې هر چا ته ې واک رسي-

رسېدل:(رَ-سې-دل)مصدر- (۱)تر سره کېدل- پوره کېدل- بشپړېدل- (۲)پخېدل- (۳)خوانېدل- بالغېدل- ودې ته رسېدل- (۴)ورسپارل کېدل-

رسېدلے:(رَ-سې-دَ-لے)اسم مفعول- جمع رسېدلي- مؤنث رسېدلې- وګورئ رسېدل-

رسېدن:(رَ-سې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ رسېدل-

رسېدنګ:(رَ-سې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رسېدل-

رسېدنه:(رَ-سې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ رسېدل-

رسېدون:(رَ-سې-دون)اسم- وګورئ رسېدل-

رسېدونکے:(رَ-سې-دون-کے)اسم فاعل- جمع رسېدونکي- مؤنث رسېدونکې- وګورئ رسېدل-

رسېدهٔ:(رَ-سې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ رسېدل-

رسی:(رَ-سی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- بياسته- رسه- پړے- بدريشه- لوئ او غټ پړے- لويه بدريزه- سوتلي- سوټري-

رش:(رش)اسم- (۱)د اری بوره- د ارې بور- (۲)پوډر- ميدګي- (۳)ورې ورې دانې- ننګي- زخې- ګرمکې-

رش:(رش)اسم- (۱)خيرے- خورے- چرک- (۲)کاته شربت- ټينګ يا غليظ شربت- (۳)ښکه- کهاد- قف- کپ-

رش:(رش)اسم- پېروے- دَ پيو سر- قيماق-

رشاد:(رَ-شاد)اسم- (۱)خوان- رشد موندلے- (۲)اسم- برابر- پهٔ لاره سم- ګمراهي نه راوتلے- راست- دَ سمې لارې موندکے- (۳)بريالے- کامياب-

رشادت:(رَ-شا-دت)اسم- زړوريتا- خونمرادي- راستي-

رشپت:(رش-پت)اسم- واحد- مذکر- دَ رشوت عاميانه تلفظ- رشوت- بډې- دالي- ناجائزه مدرانه-

رشپېل:(رش-پېل)اسم- واحد- مذکر- دَ زميدارۍ اوزار چې غنم يا اوربشې پرې ماډولے شي- وګورئ راشپېل-

رشتلے:(رش-تَ-لے)اسم- تلے- پاتې شونې- تې راش- تې حرمند- د درمنده پاتې- دَ رشې وچتولو نه پاتې شوې غله-

رشتونے:(رش-تو-نے)اسم صفت- رشتين- رښتونے- صادق- سپين- سم- ساده- سپېڅلے- جمع رشتوني-

رشته:(رش-ته)اسم- واحد- مؤنث- (۱)تار- مزے- سپنسے- (۲)ځانګه- مسلک- اړيکې- رابطه- (۳)خپلوي- خپلولي-

رشته دار:(رش-ته-دار)اسم- خپل- عزيز- خپلوان-

رشته داري:(رش-ته-دا-ري)اسم- خپلوي- خپلولي- رګے-

رشتيا:(رش-تيا)اسم- رښتيا- صداقت- راست ګوئي- دَ دروغو ضد-

رشتين:(رش-تين)اسم صفت- رښتين- صادق- راست ګو-

رشتينوالے:(رش-تين-وا-لے)اسم- رښتينوالے- حقيقت- صداقت- رښتونے-

رشتينولي:(رش-تين-و-لي)اسم- صداقت- رښتيني-

رشد:(رُشد رَشَد)اسم- نمود- وده- جسمي او ذهني انکشاف- سمه لار موندنه- پهٔ ښهٔ بد پوهېدنه- هدايت موندنه- (۲)غوړېدنه- رسېدنه- عقېدنه- (م- عربي)-

رشقه:(رش-قه)اسم- واحد- مؤنث- رشکه- رېشکه- دَ شوتلو غندې يو قسم واښهٔ چې کرلے کېږي او ګاروي ې خوري-

رشک:(رَشک رشک)اسم- (۱)پېم- پوم- پوسے- د ګرمنې يو قسم بيماري-

ىٓ (ګي-رل)، ىٓ(مي-ر-مول)، ىٓ(پيا-لي)، ېٓ(تن-دې) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

(۲)ککړ- غش- ګډ- لړلے- په يو اصلي څيز کښې د يو بدل څيز ګډونه-

رشک:(رَشک،رَشک)اسم- (۱)سيالي- همسري- برابري- (۲)رخه- سخه- اورې- حسد- ترويخه-

رشکه:(رَش-که)اسم- واحد- مؤنث- رشه- راشۀ- پيرې-

رشکين:(رَش-کين)اسم- (۱)مشوش- په تشويش کښې- (۲)ګډ- ککړ- لړلے- کلپ- ناپاکه- (۳)ننګيالے- غيرت مند- (فارسي)-

رشکي:(رَش-کي)اسم- واحد- مؤنث- پيرې- غڼوی- خټ- راشۀ- وړه رشه-

رشل:(رِشل)مصدر- ورتل- وريښل- ريښل-

رشلړے:(رش-ل-ړے)اسم صفت- هغه څوک چې د څۀ پيسې په مقابل کښې په حمام کښې خلق کيسه کوي- کيسه مال- (افغانستان)-

رشن:(رِشن)حاصل مصدر- وګورئ رشل-

رشنګ:(رِشنګ)حاصل مصدر- وګورئ رشل-

رشنه:(رِشنه)حاصل مصدر- وګورئ رشل-

رشوت:(رش-وَت)اسم- بډې- رشوه- رشېت- د څۀ کار کولو د پاره ناجايزه تحفې، پيسې يا بل څۀ څيز اخستنه-

رشوت خور:(رش-وَت-خور)اسم صفت- بډې خوړونکے- هغه څوک چې رشوت اخلي-

رشوت خوري:(رش-وَت-خو-ري)اسم- بډې خوړنه- بډې اخستنه- رشوت اخستنه- رشوت خوړنه-

رشونکے:(رِشون-کے)اسم فاعل- جمع رشونکي- مؤنث رشونکې- وګورئ رشل-

رشوه:(رش-وه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ رشوت- جمع رشوې- (افغانستان)-

رشه:(رُشه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خوئ- عادت- خصلت- طبيعت- (۲)دود- دستور- رواج- رسم- (۳)انوقه- خواړۀ خوراکي څيزونه- (۴)پېروې- رش- قيماق- جمع رشې-

رشه:(رَشه)اسم- واحد- مؤنث- ريښه- پاک شوے درمند- د درمند هغه پاکه شوې غله چې د اخستلو يا وړلو د پاره تياره وي-

رشيد:(رَشيد)اسم صفت- (۱)وده موندلے- د ودې خاوند- هغه څوک چې د رشد وصف لري- (۲)هغه څوک چې کټه او زيان او ښۀ او بد سره پېژندلے شي- (۳)د ذهنی او بدنی ودې خاوند- (۴)سمه لار موندونکے- په لاره سم- رښتينے- (۵)زړور- زړۀ ور- (م- عربي)-

رښ:(رُښ)اسم- واحد- مذکر- شيره- عصاره- خوښه- خوښاب- جوشاب- نچوړ-

رښتل:(رِښ-تل)مصدر- وريښل- رشل- ورتل- اېښتل- مالوچ ريښل-

رښتلے:(رِښ-تَه-لے)اسم مفعول- جمع رښتلي- مؤنث رښتلې- وګورئ رستل-

رښتمنی:(رښت-مَ-ني)اسم- ثبوت- تحقيق- زبات- زبوت- (افغانستان)-

رښتن:(رِښ-تَن)حاصل مصدر- وګورئ رښتل-

رښتنګ:(رِښ-تَنګ)حاصل مصدر- وګورئ رښتل-

رښتنګلوی:(رِښ-تن-ګل-وی)اسم (۱)صداقت- سهين والے- رښتنګي- (۲)دوستي-

رښتنګي:(رِښ-تن-ګي)اسم- رښتينولي- رښتين والے-

رښتنه:(رِښ-تَه-نه)حاصل مصدر- وګورئ رښتل-

رښتني:(رِښ-تَ-ني)اسم- (۱)رښتيا- رشتيا- رښتينولي- صداقت- رښتون- (۲)خبره سپينونه-

رښتنے:(رِښ-تَ-نے)اسم صفت- صادق- سهين- رښتونے- رشتينے- رښتينے-

رښتون:(رِښ-تُون)اسم- وګورئ رښتني- (افغانستان)-

رښتونکے:(رِښ-تُون-کے)اسم فاعل- جمع رښتونکي- مؤنث رښتونکې- وګورئ رښتل-

رښتونے:(رِښ-تُو-نے)اسم صفت- رښتنے- صادق- سهين- رښتينے-

رښتيا:(رِښ-تيا)اسم- رشتيا- صداقت- د دروغو ضد-

رښتياتوب:(رِښ-تيا-توب)اسم- وګورئ رښتياوالے-

رښتياګلوی:(رِښ-تيا-ګل-وی)اسم- سچائي- صداقت- رښتياوالے-

رښتياګو:(رِښ-تيا-ګو)اسم- په رښتيا- په صداقت- د حقيقت له مخې- رښتيانو-

رښتيانو:(رِښ-تيا-نو)اسم- وګورئ رښتياګو- اکثر ورسره "د" راځي لکه، د رښتيانو-

رښتيانے:(رِښ-تيا-نے)اسم- د رښتيا- د حقيقت- په رښتيا مربوط- حقيقي- رښتونے- پاک- سوچه-

رښتياوالے:(رِښ-تيا-وا-لے)اسم- سهينوالے- رښتياتوب- صداقت-

رښتين:(رِښ-تين)اسم صفت- رشتين- صادق- سهين- رښتونے-

رښتين توب:(رِښ-تين-توب)اسم- ريشتينتوب- په رښتيا- رښتياتي- ريښتيا- سچائي-

رښتينتيا:(رِښ-تين-تيا)اسم- وګورئ رښتين توب-

رښتينګلوی:(رِښ-تين-ګل-وی)اسم- رشتياوالے- صداقت-

رښتينواله:(رِښ-تين-وا-له)اسم- راستي- صداقت- اخلاص-

رښتينولي:(رِښ-تين-و-لي)اسم- د يوې خبرې سپينونه- د يوې موضوع دروغ او رښتيا معلومونه-

رښتيني:(رِښ-تي-ني)اسم- وګورئ رښتني-

رښتينے:(رِښ-تي-نے)اسم صفت- وګورئ رښتين- جمع رښتيني-

رښک:(رښک)اسم- (۱)کرښه- خط- ليکه- کيله- رښکه- (۲)نښه- اثر- علامه- ښکه-

رښکه:(رښ-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کرښه- رښک- (۲)توښنے- پترکے- (۳)تشنج- هيجان-

رښکي:(رښ-کي)اسم- واحد جمع- مؤنث- رښکي- (۱)ريښه- ريښاړه- ليتاړه- ريتوړه- رنجه د رخت وړده يا وړه توټه- (۲)په پټي کښې د کر د بره حوړه شوې دوپچه-

رښېدل:(رِ-ښې-دَل)مصدر- ترېدل- ترهېدل- ويربدل- ببرېدل- پارېدل-

ترارېدل- ترېدل-

رښېدلے:(رَ-ښې-دَ-لے)اسم مفعول- جمع رښېدلی- مؤنث رښېدلې- وګورئ رښېدل-

رښېدن:(رَ-ښې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ رښېدل-

رښېدنګ:(رَ-ښې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رښېدل-

رښېدنه:(رَ-ښې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ رښېدل-

رښېدونکے:(رَ-ښې-دُون-کے)اسم فاعل- جمع رښېدونکی- مؤنث رښېدونکې- وګورئ رښېدل-

رښېده:(رَ-ښې-ده)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ رښېدل-

رښی:(رَ-ښی)اسم- نول- کړاؤ- غصه-

رښے:(رَ-ښے)اسم- واحد- مذکر- دَ کټې بند-

رصاص:(ر-صاص)اسم- تلعی- سپینځی- سیکه- (عربی)-

رصانت:(رَ-صا-نت)اسم- کلکتوب- کلکتیا- ټینګوالے- ټینګوالے- مضبوطی- محکمی- (عربی)-

رصد:(رَ-صَد)اسم- (۱)څارنه- (۲)دَ ستوریو ګردش کتنه- اسمان څار- (۲)لاره- (۴- صفت)ساتونکے- محافظ-

رصدخانه:(رَ-صَد-خا-نه)اسم- واحد- مؤنث- هغه لور او ټاکلے ځائ چې ترې دَ ستوریو او سیارو څارنه کیږی- رصدګاه-

رصدګاه:(رَ-صَد-ګاه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ رصدخانه-

رصین:(رَ-صین)اسم صفت- محکم- ټینګ- مضبوط- (عربی)-

رضا:(رَ-ضا)اسم- (۱)خوښه- اختیار- موافقت- میل- رغبت- (۲)انتخاب- غوره کونه- چاڼ- چوڼ- (۲- صفت)راضی- خوښ- تابع- خوشحال- (م- عربی)-

رضا صلا:(رَ-ضا-صَ-لا)اسم- صلا مصلحت- رضامندی- خوښی- په جوړ جاړ-

رضاعت:(رَ-ضا-عت)اسم- دَ ماشوم پیو رودلو موده-

رضاعی:(رَ-ضا-عی)اسم صفت- دَ تی ورور- دَ پیو شریک ورور- رودنی- دَ تی ورور یا خور-

رضاکار:(ر-ضا-کار)اسم صفت- د قوم او ملک خدمت ته پخپله خوښه ځان وړاندې کونکے- جمع رضاکاران-

رضاکارانه:(رَ-ضا-کا-را-نه)اسم- په رضا- په خوښه- په خپل زړه-

رضامند:(رَ-ضا-مَند)اسم صفت- راضی- رضا- قائم- خوښ-

رضامندی:(رَ-ضا-مَن-دی)اسم- رضایت- رضا- خوښی- خوښه- رغبت- زړه- مرضی- میل- موافقه- قناعت-

رضا نارضا:(رَ-ضا-نا-رَ-ضا)اسم- مجبوراً- په زور زیاتی- په ناچاری- ارومرو- خامخا- خوښی ناخوښی- چې دَ چا دَ خوښې ناخوښې خیال پکښې نهٔ ساتلے کیږی-

رضایت:(رَ-ضا-یت)اسم- (۱)رضامندی- (۲)اجازت- رخصت- (۲)خوښی- خوښه- میل- (م- عربی)-

رضوان:(رِض-وان)اسم- دَ جنت څوکیدار-

رضیع:(رَ-ضیع)اسم- تے رودونکے- تے روے- هغه ماشوم بچے چې پئ روی-

رطب:(رطب)اسم- لوند- تازه- تړ- خوشت- خیشت- (م- عربی)-

رطل:(رَ-طل)اسم- دَ شرابو پیاله- اوړی- دَ وزن یوه پیمانه- (م- عربی)-

رطوبت:(رَ-طو-بت)اسم- لوندوالے- نمی- تازګی- لنده بل- خوشتوالے- (م- عربی)-

رعایا:(ر-عا-یا)اسم- رول- حکم منونکي- رعیت-

رعایت:(ر-عا-یت)اسم- خاطر- لحاظ- نګهبانی- حق پیژندنه- (م- عربی)-

رعایتول:(ر-عا-یه-تَ-وَل)مصدر- پاس لرل- مراعاتول- لحاظ کول- خاطر کول- (۲)دَ یو اصل دَ اساسونو سره سم تګ کول- (۲)دَ چا حق پیژندل- (افغانستان)-

رعایتولے:(رَ-عا-یه-تَ-وَ-لے)اسم مفعول- جمع رعایتولی- مؤنث رعایتولې- وګورئ رعایتول-

رعایتون:(ر-عا-یه-تَ-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ رعایتول-

رعایتونکے:(ر-عا-یه-تَ-وون-کے)اسم فاعل- جمع رعایتونکی- مؤنث رعایتونکې- وګورئ رعایتول-

رعایتونګ:(ر-عا-یه-تَ-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رعایتول-

رعایتونه:(ر-عا-یه-تَ-وَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ رعایتول-

رُعب:(رُعب)اسم- ویره- ډار- روپ- روب- خوف- یره- مصیبت- پرتم- سټر-

رُعب داب:(رُعب-داب)اسم- شان شوکت- دبدبه- سام-

رَعد:(رعد)اسم- (۱)تنبا- تالنده- دَ اسمان غړا- دَ اسمان ګړزا- دَ اسمان ګړز ګړوز- غړنده- (۲)تندر- صاعقه- تکه- (م- عربی)-

رعنا:(رَع-نا)اسم- خیالی- خیالی ګرم- احمقه او خودخواه ښځه- (۲)ښکلې- ډولی- دَ ښهٔ او متناسب اندام خاونده-

رعنائی:(رَع-نا-ئی)اسم- ښائسته- ښکلا- حُسن- وضع داری- خیال-

رعونت:(رَ-عو-نت)اسم- (۱)تکبر- غرور- (۲)تندی- (۲)ناپوهی- کم عقلی-

رعیت:(ر-عی-یت)اسم- پاملے- تابع- تبعه- اتباع- رایت- رعایا- عوام- هغه قوم یا ټولنه چې یو سرپرست لری- د بزرګانو یوه پله چې په یو ملک کښې دَ یو مالک دَ حکم لاندې وی- (۲)پسه- ګله- (۴)رام- تر ارادې لاندی- (افغانستان)-

رعیتی:(ر-عی-یه-تی)اسم- رایتی- د رعیت- د اولس- رعیت ته منسوب-

رغ:(رغ)اسم- ښکاره- څرګند- جوت- صاف- واضح-

رغ:(رغ)اسم- (۱)روغے- تبغ- اروے- (۲)چاره- سازش- جوړه- موافقه-

رغ:(رغ)اسم- دَ غوړ لمن- راغه- روغه-

رغا:(ر-غا)اسم- (۱)رغاونه- رغېدنه- جوړېدنه- ښه کېدنه- (۲)زړهٔ صبرونه- زړهٔ صربدنه-

رغا:(ر-غا)اسم صوت- وړه چغه-

"ی" (عی-رل)، "ې"(هې-ره-ول)، "ی"(ېیا-لی)، "ئ"(تن-دی) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www pukhto net

رغام:(رَ-غام)اسم- دوړه- ایره- ګرد- غُبار-

رغاندل (رَ-غان-دَل)مصدر- (۱)کوکه اېستل- کریږه اېستل- کریکه اېستل- چغه اېستل- (۲)شاربل- دَ مستو شاربل- (۳)غندل- بَد ویل-

رغاندلے:(رَ-غان-دَلَے)اسمِ مفعول- وګورئ رغاندل-

رغاندن:(رَ-غان-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ رغاندل-

رغاندنګ:(رَ-غان-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رغاندل-

رغاندنه:(رَ-غان-دَنَه)حاصلِ مصدر- وګورئ رغاندل-

رغاندونکے:(رَ-غان-دُون-کے)اسمِ فاعل- جمع رغاندونکي- مؤنث رغاندونکې- وګورئ رغاندل-

رغاندهٔ:(رَ-غان-دهٔ)اسم- وګورئ رغاندل-

رغاو:(ر-غاو)اسم- رغاوه- رغېدنه- زره صبرېدنه- اوړیکې پرېکونه- د مناسباتو لهٔ میځه اوړنه-

رغاوه:(ر-غا-وه)اسم- وګورئ رغاو-

رغاوېز:(رَ-غاو-ېز)اسم صفت- (۱)شاندار- له پرتمه ډک- (۲)ښائېسته- ښکلے- ورلی یا منقش-

رغبت:(رَغ-بت)اسم- (۱)غښتنه- میل میلان- ارزو- هیله- علاقه- توجه- (۲)خوښه- دوستي- خپلولي-

رغبولے:(رَغ-بو-لے)اسم- یو قسم خوشبویه نازک او سپین بوټے چې د پسرلي پهٔ موسم کښې پهٔ غرونو کېږي- خلق يې پاڼې شوکوی او پهٔ شوملو مستو کښې يې اچوی-

رغدے:(رغ-دے)اسم صفت- بروملے- چالاک- غولونکے- (م- عربي)-

رغریوبے:(رَغر-یو-بے)اسم صفت- دَ کښت پېره دار- دَ فصل ساتندونے- جمع رغریوبي- (افغانستان)-

رغړ:(رَ-غړ)اسم صفت- زوبړ- زُوړ- ټیټ پلن- ښکته پورته ځایَ- کوز او ټیټ ځایَ-

رغړند:(رَغه-ړند)اسم صفت- (۱)خوړے- خوړ- مایل ځای- (۲)رغړېدونکے- تیلېدونکے-

رغړندوکے:(رغه-ړن-دو-کے)اسم- لولکه- تلنګے- د ماشومانو د لوبو یو کېږ چې رغړي- (افغانستان)-

رغړنده:(رَغه-ړن-ده)اسم صفت- رغړند- مخ ځوړن ځایَ چې هر شے تری نه رغړي او ځهٔ پرې ټینګیږی نه-

رغړول:(رَغه-ړ-وَل)مصدر- (۱)کولول- تیلول- کړرول- ګړرول- (۲)لټ پهٔ لټ یا لوټ پهٔ لوټ اړول- (۳)خَلَهٔ کنګلول- اُبهٔ غرغره کول- (۴)غولول- خطا اېستل- (۵)دروغ ویل-

رغړولے:(رَغه-ړ-وَلے)اسم مفعول- جمع رغړولي- مؤنث رغړولې- وګورئ رغړول-

رغړون:(رَغه-ړ-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ رغړول-

رغړونکے:(رغه-ړ-وون-کے)اسم فاعل- جمع رغړونکي- مؤنث رغړونکې- وګورئ رغړول-

رغړونګ:(رَغه-ړُونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رغړول-

رغړونه:(رَغه-ړ-وَنَه)حاصلِ مصدر- وګورئ رغړول-

رغړېدل:(رَغه-ړې-دَل)مصدر- (۱)کولېدل- تیلېدل- کړرېدل- ګړرېدل- (۲)لټ پهٔ لټ یا لوټ پهٔ لوټ اوړېدل- (۳)خَلَهٔ کنګالېدل- اُبهٔ غرغره کېدل- (۴)غولېدل-

رغړېدلے:(رَغه-ړې-دَلے)اسم مفعول- جمع رغړېدلي- مؤنث رغړېدلې- وګورئ رغړېدل-

رغړېدن:(رَغه-ړې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ رغړېدل-

رغړېدنګ:(رَغه-ړې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رغړېدل-

رغړېدنه:(رَغه-ړې-دَنَه)حاصلِ مصدر- وګورئ رغړېدل-

رغړېدونکے:(رَغه-ړې-دُون-کے)اسم فاعل- جمع رغړېدونکي- مؤنث رغړېدونکې- وګورئ رغړېدل-

رغړېدهٔ:(رَغه-ړې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ رغړېدل-

رغړی:(رغ-ړی/رغه-ړی)اسم- ټیټې او سپینې سترګې- تپاغې او سپینې سترګې- (افغانستان)-

رغړی:(رغ-ړی)اسم- مؤنث- یوه ارابه لرونکې وسیله چې خاورې ځځلې یا د بټۍ خاوره پکښې وړلے شي- (افغانستان)-

رغزی:(رغ-زی)اسم- واحد- مذکر- ګُل ورین- ګلونه راټوکېدنه- ګلبدن- چمنستان جوړېدنه-

رغستل:(رَ-غس-تَل)مصدر- جنګ کول- پهٔ یو بل چکونه او نوکارې لګول-

رغستن:(رَ-غس-تَن)اسم- چاره- لاره- سبب-

رغستن:(رَ-غس-تَن)حاصلِ مصدر- وګورئ رغستل-

رغستنګ:(رَ-غس-تَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رغستل-

رغستنه:(رَ-غس-تَنَه)حاصلِ مصدر- وګورئ رغستل-

رغستونکے:(رَ-غس-تُون-کے)اسم فاعل- جمع رغستونکي- مؤنث رغستونکې- وګورئ رغستل-

رغښتل:(رَ-غښ-تَل)مصدر- رارغړول-

رغښت:(رَغښت)اسم- (۱)لټ پهٔ لټ- لوټکي- (۲)ځغلېدهٔ ځغل- ځغاسته- منډه- (۳)کولېدهٔ تولېدهٔ تیلېدهٔ رغړېدهٔ-

رغښت:(ر-غښت)اسم- جوړښت- جوړېدنه- رغېدنه- روغېدنه-

رغښتل:(رَغښ-تَل)مصدر- (۱)رغړېدل- کولېدل- تیلېدل- پېچل کېدل- (۲)لوټ پهٔ لوټ یا لټ پهٔ لټ اړېتل- (۳)دَ دېوال چپه کېدل-

رغښتلے:(رَغښ-تَلے)اسم مفعول- جمع رغښتلي- مؤنث رغښتلې- وګورئ رغښتل-

رغښتن:(رغښ-تن)حاصل مصدر- وګورئ رغښتل-

رغښتنګ:(رغښ-تَنګ)حاصل مصدر- وګورئ رغښتل-

رغبتـــه:(رغْبِن-تـۀـنه)حاصل مصدر- وګورئ رغبتل-

رغبتونکے:(رغْبِن-تُونْ-کے)اسم فاعل- جمع رغبتونکي- مؤنث رغبتونکې- وګورئ رغبتل-

رغبتے:(رغْبِن-تے)اسم مفعول- جمع رغبتي- مؤنث رغبتې- وګورئ رغبتل-

رغلے:(رغۀـلے)اسم- انغرے- دري ښځې لرونکے دُ اُسپنې نغرے- جمع رغلي-

رغم:(رَ-غَم)اسم- مخالفت کونه- ضد کونه-

رغمه:(رغْ-مه)اسم- صبر-

رغندل:(رَ-غَن-دل)مصدر- دلول- ورغاندل- مېده کول- وړول- غوڅول-

رغندن:(رَ-غَن-دَن)حاصل مصدر- وګورئ رغندل-

رغندګ:(رَ-غَن-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ رغندل-

رغندنه:(رَ-غن-دۀـنه)حاصل مصدر- وګورئ رغندل-

رغندونکے:(رَ-غن-دون-کے)اسم فاعل- جمع رغندونکي- مؤنث رغندونکې- وګورئ رغندل-

رغندے:(رَ-غن-دے)اسم- دَ مرۍ وبخ- غرندے- جمع رغندي-

رغنه:(رَ-غۀـنه)حاصل مصدر- رغېدنه-

رغوتے:(رَ-غو-تے)اسم صفت- واحد- مذکر- دُ زغم خاوند- دُ حوصلې خاوند-

رغوست:(رَ-غوست)اسم- غنم رنګے- توربخن-

رغول:(رَ-غُ-وُل)مصدر- (۱)اباداول- جوړول- سازول- سمول- (۲)ګټـېل- (۳)شفا ورکول- په علاج سره ناروغه جوړول- (۴)نقاشي کول- منقش کول- (۵)په دښمنۍ کښې ځان خلاصول او جوړېدل-

رغول:(رَ-غُ-وُل)مصدر- زړۀ صبرول- رابطه شلول- اړيکې شلول- رابطه قطع کول- لۀ يو بل نه لاس اخستل-

رغولے:(رَ-غُ-وۀـلے)اسم معمول- جمع رغولي- مؤنث رغولې- وګورئ رغول-

رغون:(رَ-غون)اسم- مذکر- زړۀ صبرونه- رابطه قطع کونه-

رغون:(رَ-غُ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ رغول-

رغونګ:(رَ-غُ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ رغول-

رغونه:(رَ-غُ-وۀـنه)حاصل مصدر- وګورئ رغول-

رغونکے:(رَ-غُ-ون-کے)اسم فاعل- جمع رغونکي- مؤنث رغونکې- وګورئ رغول-

رغه:(رَ-غه)اسم- وګورئ راغه-

رغېدن:(رَ-غېن-دَن)حاصل مصدر- دَ رغېدن بل قرات- وګورئ رغېدل-

رغېدل:(رَ-غې-دَل)مصدر- (۱)رغېدل- شفا موندل- (۲)جوړېدل- سازېدل- دَ ورانېدل ضد- (۳)کښلے کېدل- پيوندېدل-

رغېدل:(رَ-غې-دَل)مصدر- رابطه قطع کېدل- اړيکې يا رابطه پرېکېدل- دوستي او خپلوي پرېښول- لۀ يو بله لاس اخستل-

رغېدلے:(رَ-غې-دۀـلے)اسم معمول- جمع رغېدلي- مؤنث رغېدلې- وګورئ رغېدل-

رغېدن:(رَ-غې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ رغېدل-

رغېدنګ:(رَ-غې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ رغېدل-

رغېدنه:(رَ-غې-دۀـنه)حاصل مصدر- وګورئ رغېدل-

رغېدونکے:(رَ-غې-دون-کے)اسم فاعل- جمع رغېدونکي- مؤنث رغېدونکې- وګورئ رغېدل-

رغېدۀ:(رَ-غې-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ رغېدل-

رغى:(رَ-غى)اسم- تورکے- تېول شوے لوګے- سره راغنډ شوے دود- هغه لوګے چې پۀ چت يا ديوال نښتے وي- رنګى- رغے-

رغے:(رَ-غے)اسم- واحد- مذکر- لې زور- هغه ونه يا لوښے چې ډېر لږ زور وي- مؤنث رغې-

رغے:(رَ-غے)اسم- (۱)رغوسه- جوړښت- اصلاح- جوړه- پخلا کونه- (۲)وګورئ رغى-

رف:(رَف)اسم- موړه- مورکه- پشته- اړم- هغه تخته چې دَ کور ورووکے ورووکے سامان پرې ايښوے شي- رېړ- چنه-

رفا:(رَ-فا)اسم- اتفاق- تړون والے- پرله پورې راتلے- (افغانستان)-

رفاقت:(رَ-فا-قت)اسم- (۱)ملګرتيا- ملګرتوب- انډيوالي- (۲)يارانه- تار اچونه- (م- عربي)-

رفاه:(رَ-فاه)اسم- (۱)آرامي- هوساينه- هوساني- سوکالي- ښېګړه- (۲)پرېماني- فراواني- دَ اقتصادي دور يوه مرحله- (م- فارسي)-

رفتار:(رفـتار)اسم- واحد- مذکر- (۱)چلند- چله- روش- ګوزاره- سلوک- (۲)ليون- تګ- حرکت- تلنه- تلګ- (م- فارسي)-

رفت آمد:(رفت-آمد)اسم- (۱)تګ راتګ- تلۀ راتلۀ- تلل- (۲)مدارـ عزت-

رفتګى:(رفـتـګى)اسم- دَ وخت دَ مروج رسم رواج سره مطابقت-

رفرف:(رفـرف)اسم- (۱)کمبل- کبل- (۲)دَ حضرت اسرائيل عليه السلام دَ وسپدو ځاى- (۳)دَ هغه سورلۍ نوم چې حضور صلى الله عليه وسلم پرې دَ معراج پۀ شپه سورلي کړې ده-

رفرى:(رفـرى)اسم- (۱)دَ لوبو قاضي- منځګړ- حکم- (۲)هغه ګوډ چې دَ حل يا پرېکړې دَ پاره يوه موضوع ورته سپارلے کېږي- (م- انګريزي)-

رفع:(رَفع)اسم- (۱)لرې کونه- ايسته کونه- لۀ مينځه وړنه- (۲)پخونه- لوړونه- پورته کونه- (۳)دَ يوې کلمې مرفوع کونه- حذفونه-

رفعت:(رفـعت)اسم- دَ رتبې وچتوالے- بلندي- لوړ- (م- عربي)-

رفع دفع:(رفـعـدفع)اسم- اپه دپه- ختمونه- برداستونه-

رفو:(رَفو)اسم- (۱)پنځرے- کرمل- کربل- ګنډنه- رپو- پنځرک- ترميم- دَ قميص يا پرتوګ شلېدلے ځاى بيا جوړونه- (۲)پيوند- ګنډ- پينه- پينه-

رفوګر:(رفو-ګر)اسم- رفو کونکے- هغه ګوډ چې دَ رفو کولو کسب کوي-

رفيع:(رَ-فيع)اسم صفت- (۱)لوړ- هسک- جګ- (۲)دَ لوړې مرتبې يا درجې خاوند- شريف- (م- عربي)-

یٔ (ښې-رل)، يې (هې-رهـول)، ی (ېيا-لې)، ے (تن-دے) تفصيل دَ پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

رفيق:(رَ-فيق)اسم- (۱)ملګرے- مل- دوست- اشنا- انډيوال- (۲)دَ يوهٔ فکر- دَ يوهٔ اند- (۳)يار- محبوب- معشوق-

رفيقي:(رَ-في-قي)اسم- رفاقت- ملګرتيا-

رق:(رق)اسم- (۱)مرئے- غلام- بنده- (۲)غلامي- مريتوب- (م- عربي)-

رق:(رق)اسم صفت- ابع تبع-

رقاب:(ر-قاب)اسم- (۱)غاړې- څټونه- (۲)غلامان-

رقابت:(ر-قا-بت)اسم- (۱)څارنه- څار- نګهباني- حفاظت- (۲)سيالي- سونده- (۳)مخالفت- (۴)پهٔ مينه کښې شرکت- (۵)انتظار-

رقاص:(رَ-قاص)اسم- ګډېدونکے- نڅے- ناڅو- لبنتي- مؤنث رقاصه- (م- عربي)-

رقاصه:(ر-قا-صه)اسم- واحد- مؤنث- جمع رقاصې- وګورئ رقاص-

رقبه:(رق-به)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ساحه- مساحت- (۲)مرئے- (۳)غلام- بنده- (۴)هغه زمکه چې څا ته د هغهٔ تر مرګه پورې ورکړے شوې وي-

رقت:(ر-قت)اسم- (۱)نازکي- (۲)نرمي- لطافت- (۳)مهرباني- زړهٔ سوے- رحم- زړهٔ سوانډي- (۴)شرم- (م- عربي)-

رقص:(رقص)اسم- ګډا- نڅا- جمع رقصونه-

رقصول:(رَق-ص-وَل)مصدر- ګډول- نڅول- (م- عربي)-

رقصېدل:(رَق-صې-دَل)مصدر- نڅېدل- ګډېدل- رقص کول-

رقصدن:(رق-صې-دن)حاصل مصدر- وګورئ رقصېدل-

رقصدنګ:(رق-صې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ رقصېدل-

رقصېدنه:(رق-صې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ رقصېدل-

رقصېدونکے:(رق-صې-دون-کے)اسم فاعل- وګورئ رقصېدل-

رقعه:(رق-عه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خط- ليک- دَ کاغذ هغه ټوټه چې څهٔ ورباندې ليکلے کيږي- (۲)د يو شي ټوټه يا څيرې برخه-

رقم:(رَ-قَم)اسم- (۱)راز- ډول- قسم- (۲)انځور- (۳)ليک- (۴)عدد- (۵)پټ ليک-

رقوم:(رُ-قوم)اسم- دَ رقم جمع- وګورئ رقم-

رقيب:(ر-قيب)اسم- واحد- مذکر- (۱)حريف- رخے- سيال- دښمن- (۲)څارو- ساتونکے- (م- عربي)-

رقيق:(رَ-قيق)اسم صفت- اُبن- نرے نروبے- اُبلن- هغه مايع چې ټينګه نهٔ وي- د غليظ مقابل-

رک:(رک)اسم صفت- (۱)څرګند- ښکاره- جوت- واضح- صفا- (۲)رو- ڀانک- معلوم- (۳)ښېخي- بالکل- بشپړ-

رکاب:(رِ-کاب)اسم- واحد- مذکر- رکابه- رکيب- دَ اوسپنې هغه دوه حلقې چې د زين دواړو اړخو ته اويزانډې وي او سور پکښې پښې ږدي- (م- عربي)-

رکابدار:(رِکاب-دار)اسم- (۱)هغه نوکر چې پهٔ اس باندې دَ خپل مالک د سورېدو پهٔ وخت کښې د اس رکاب نيسي- (۲)شاطر- جلبي- هغه پلے چې د سوارهٔ په لاره يا پهٔ مخکښې يا ورسره يوځاې ځي-

رکابي:(ر-کا-بي)اسم- رکابۍ- رکېبي- قاب- غاب- پلېټ-

رکابۍ:(ر-کا-بۍ)اسم- واحد- مؤنث- رکېبي- پلېټ- قاب- غاب- رکابي-

رکات:(رَ-کات)اسم- واحد- مذکر- رکعت- دَ لمونځ دومره حصه چې پکښې يو رکوع هم راشي- د لمونځ هغه حصه چې پکښې يو رکوع او دوه سجدې راشي-

رکات:(ر-کاټ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ريکاټ- جمع رکاټونه- (م- انګريزي ريکارډ)-

رکبه:(رکـبه)اسم- واحد- مذکر- کښے- د ورشو يا څرځاي ساتونکے- د کروندې يا فصل ساتونکے- د لېو ساتونکے-

رک پک:(رک-پک)اسم- بالکل- صريح او صاف- ښېخي پاک او صاف- (افغانستان)-

رک روغ:(رک-روغ)اسم- روغ رومټ- روغ جوړ- ښېخي جوړ-

رکړه:(رَ-کـړه)اسم- واحد- مذکر- وروړکه- وروړجانه- روکے- دَ ورور مصغر- کله کله د زياتې مينې د څرګندولو د پاره هم استعماليږي- (افغانستان)-

رکشه:(رکـشه)اسم- واحد- مؤنث- هغه مشين لرونکې ګاډۍ چې سورلۍ پکښې اوړلے شي- جمع رکشې-

رکين:(رکين)اسم- کربته- نښه- اثر- ځاپ- علامه- نښانه- رکښه- نښکه- (افغانستان)-

رکښه:(رکښه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)نښکه- رکين- نښه- نښانه- علامه- (۲)پهٔ غوړه کښې نري لار- پهٔ غوړه کښې نرے رو- (افغانستان)-

رکعت:(ر-کعت)اسم- واحد- مذکر- وګورئ رکات- جمع رکعتونه-

رکن:(ر-کن)اسم- واحد- مذکر- (۱)ستن- بنسټ- پايه- (۲)مهم جز- ستر توک- (۳)د هر شي لويه برخه- د هر شي ښياوړے توک- (۴)ستره چارهـ لوئ کار- (۵)دَ قوم مشر- د قوم واکمن- جمع ارکان- (م- عربي)-

رکوتر:(ر-کو-تر)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه لرګے چې تووَل شوے نهٔ وي- خټم لرونکے لرګے- (۲)سوټے- لوړ- کوتک- پتوه- ڀانګ-

رکود:(ر-کود)اسم- ځاې پهٔ ځاې ودرېدنه- ټپ ودرېدنه- (م- عربي)-

رکوع:(رُ-کوع)اسم- دَ سجدې او قيام تر مينځه حالت- پهٔ مانځهٔ کښې دَ ودرېدو نه وروستو د کوږېدو هغه حالت چې لاسونه پهٔ زنګونونو وي-

رکيک:(ر-کيک)اسم صفت- (۱)سپک- بې ادبه- سپين سترګے- (۲)سُست- بې کاره- ضعيف- (م- عربي)-

رکين:(ر-کين)اسم- مضبوط- محکم- ټينګ- (م- عربي)-

رکيب:(ر-کيب)اسم- واحد- مذکر- وګورئ رکاب- جمع رکيبونه-

رکېبۍ:(ر-کې-بۍ)اسم- واحد- مؤنث- (۱)رکابۍ- رغے- غاب- قاب- مشقاب- (۲)ناليکے- نوليکے- تغليکے-

رکے:(ر-کے)اسم- واحد- مذکر- وزله- ربېار-

www.pukhto.net

رګ:(رګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)د انسان او حیوان په وجود کښې هغه نالی چې وینه پکښې ګرځي راګرځي- (۲)په تمېره کښې نرۍ کرښه یا خط- (۳)فکر- نظر- (۴)رګې- رویکې- رشته- د خپلوۍ رابطه- جمع رګونه-

رګ بسته:(رګ-بس-ته)اسم- خپلوي- د وینې رشته-

رګ ریشه:(رګ-رې-شه)اسم- رشته- اصل نسل- زوزاد- زوزات-

رګړه:(رګ-ړه)اسم- مېده کونه-

رګړے:(رګ-ړے)اسم- واحد- مذکر- لۀ تې بېل شوے ماشوم- لۀ تې پرې شوے ماشوم- لۀ تې جُدا شوے ماشوم- د پيو څخه پرې شوے ماشوم-

رګ وهل:(رګ-وَ-هل)فعل- (۱)د رګ نه وینه وېستل- (۲)تشې مټیازې کول-

رګ وهنه:(رګ-وَ-هَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ رګ وهل-

رګ وهونکے:(رګ-وَ-هُون-کے)اسم فاعل- جمع رګ وهونکي- مؤنث رګ وهونکې- وګورئ رګ وهل-

رګ وهونے:(رګ-وَ-هُو-نے)اسم فاعل- وګورئ رګ وهونکے-

رګه:(رَ-ګه)اسم- واحد- مذکر- (۱)لاره- رخه- جاده- (۲)نخه- نښانه- د کرښې نښه- جمع رګې-

رګی:(رَ-ګی)اسم صفت- سارۀ وهلے- تود سوړ- د ګرم کار نه پس د یخو اُبو د څښلو په وجه بیمار شوے- (افغانستان)-

رګی:(رُ-ګی)اسم- واحد- مؤنث- باښه- د جرې مؤنث-

رګی:(رُ-ګی)اسم- واحد- مؤنث- لاره- وګورئ رګه-

رګے:(رُ-ګے)اسم- رشته داري- خپلوي- خپلولي-

رم:(رم)اسم- ویره- ترهه- تور- ترایه- (م- فارسي)-

رماز:(رَ-ماز)اسم- رموز- اشاره-

رمال:(رَ-مال)اسم- فال بین- فال کتونکے- دعوتي- تروېتي- تورېتي-

رمان:(رُ-مان)اسم- نرګوسے- انارګوسے- انار- (م- عربي)-

رمباړه:(رم-با-ړه)اسم صوت- واحد- مؤنث- (۱)د څناور اواز- رمبکے- (۲)اوږده چغه- جمع رمباړې-

رمبکتیا:(رَم-بک-تیا)اسم- اداره- انضباط- (افغانستان)-

رمبکه:(رَم-بَ-که)اسم- واحد- مؤنث- تېغې- تېغنه- تېغه- د بوټي یا خس تازه سر وهنه- راوتنه-

رمبکه:(رَم-بم-که)اسم صوت- واحد- مؤنث- وګورئ رمباړه- جمع رمبکې-

رمبکے:(رَم-بَ-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه سړے چې د یو قام یا اولس یا یوې سیمې څخه عوره کیږي او د یو مهمې موضوع په وخت کښې د خلقو د خبرولو یا اهمیت د ساتلو دنده تر سره کوي- (۲)وګورئ رمباړه- جمع رمبکي- (افغانستان)-

رمبوسے:(رم-بو-سے)اسم- واحد- مذکر- راموسے- راموسي- مشک لرونکې موسی-

رمبه:(رم-به)اسم- واحد- مؤنث- (۱)برمه- (۲)رمبے- لۀ اسپنې جوړه تېره آله- (۳)یو قسم لو چې په ولاړه کیږي- (افغانستان)-

رمبے:(رَم-بے)اسم- (۱)رمبه- (۲)د موچي د کار یوه آله چې څرمن یا ربړ یا تار پرې غوڅولے یا تورولے شي- جمع رمبي-

رمټ:(رَ-مټ)کلمه- ترکیبي صفت لرونکې کلمه لکه روغ رمټ-

رمد:(رَ-مد)اسم- د سترګو مرض چې پکښې د سترګو سپین سرۀ شي او ډېر درد کوي-

رمز:(رمز)اسم- واحد- مذکر- (۱)په سترګو شونډو یا وروځو اشاره- (۲)پټه اشاره- رونګه- (۳)راز- پټه خبره- جمع رموز رموزونه- (م- عربي)-

رمضان:(رم-ضان)اسم- روژه- د روژې میاشت- د هجري قمري کال نهمه میاشت- (م- عربي)-

رمق:(رَ-مق)اسم- (۱)اخرنی سلګی- وروستے دم- نرۍ ساه- (۲)توان- تاب- (۳)لږه غذا- (۴)د پسونو ګله- (م- عربي)-

رمل:(رَ-مل)اسم- (۱)یوست ریګ- (۲)د یو علم نوم- (۳)د زیړو نه جوړ شوی مکعبونه چې په پېشنګویۍ کښې ترې کار اخلي- (۴)د شعرونو د بحرونو څخه د یو بحر نوم- (۵)لږ باران- (۶)پرېښت- (۷)د وحشي غوائي د پښو کرښې چې د بدن رنګ نه ئې توږي والے و نه لري- (م- عربي)-

رمنډ:(رَ-منډ)اسم صفت- لوڅ- لڅ- لغړ- برېنډ- برمنډ-

رموز:(رُ-موز)اسم- وګورئ رمز-

رمول:(رَ-مول)مصدر- (۱)ترول- داړول- بېرول- وېرول- ترهول- (۲)څاروي لۀ کوره د څر ځائ نه بوتلل- پوول- پیایل- بیول-

رمولے:(رَ-مو-لے)اسم مفعول- جمع رمولي- مؤنث رمولې- وګورئ رمول-

رمون:(رَ-مون)حاصل مصدر- وګورئ رمول-

رمونکے:(رَ-مون-کے)اسم فاعل- جمع رمونکي- مؤنث رمونکې- وګورئ رمول-

رمونګ:(رَ-مونګ)حاصل مصدر- وګورئ رمول-

رمونه:(رَ-مو-نه)حاصل مصدر- وګورئ رمول-

رمه:(رَ-مه)اسم- واحد- مؤنث- غېله- غیله- د بزو او پسونو ګله-

رمه:(رَ-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)زوه- رمې- نو- هغه مواد چې لۀ زخمه راوځي- (۲)هغه سپینې اوبۀ چې دستونو سره ځي- جمع رمې-

رمه وال:(رَ-مه-وال)اسم- د رمې خاوند- د رمې څښتن-

رمه یی:(رَ-مه-یي)اسم- میږی پسۀ- د رمې پسۀ- د کلي پسۀ- (افغانستان)-

رمیا:(رم-یا)اسم- شپون-

رمېتون:(رَ-مې-تون)اسم- شماځلنه-

رمېدل:(رَ-مې-دل)مصدر- (۱)تربدل- واربدل- (۲)څاروی لۀ کوره د څر ځائ ته بوتلل- پوول کېدل-

رمېدلے:(رَ-مې-دَ-لے)اسم مفعول- جمع رمېدلي- مؤنث رمېدلې- وګورئ رمېدل-

رمېدن:(رَ-مې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ رمېدل-

رمېدنګ:(رَ-مې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ رمېدل-

ئ- (ځی-ږل)، ئ-(مې-رهـ-ول)، ئ-(پیا-لی)، ئے-(تن-دیے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

رمېدنه:(رَ-مې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ رمېدل-

رمېدونکے:(رَ-مې-دُون-کے)اسم فاعل- جمع رمېدونکي- مؤنث رمېدونکې- وګورئ رمېدل-

رمېدهٔ:(رَ-مې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ رمېدل-

رمي:(رَ-مي)اسم- هغه کټوره زر چې زرګران پرې کالی ټانکه کوی-

رمي:(رَ-مي)اسم- واحد- مؤنث- رمه- نو- زوه-

رمے:(رَ-مے)کلمه- روغ- تندرست- دا تورے د روغ سره وئيلے شي-

رنج:(رنج)اسم- واحد- مذکر- کړاؤ- تکليف- زحمت- درد- (م- فارسی)-

رنجړومه:(رَنج-ړُو-مه)اسم- واحد- مؤنث- رنجونی- رنجومه- نجړومه- رنځلومه- رنجونی- رجړومه- هغه کټوره چې د سترګو رانجهٔ پکښې ساتلے شي-

رنجک:(رَن-جک)اسم- بارود- باروت- مېده باروت- د ټوپک مېده بارود-

رنجکاے:(رنج-کا-ے)اسم- واحد- مذکر- د رنجو تيږه- د انتی موني ډبره- هغه تيږه چې رانجهٔ ترې جاملولے شي- (افغانستان)-

رنځکه:(رَن-ځَ-که)اسم- واحد- مؤنث- چلوانی- چلونی- چولانی- تاندمه- رنځکه- يو قسم ساګ- پنډورے- تاندوله- تاندولے- تندوله-

رنجکی:(رَن-جه-کي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ رنجکے-

رنجکے:(رَن-جه-کے)اسم- واحد- مؤنث- سينګړی- ډډی- چمنه- رنجکی- د ټوپک د دارو کټوره- (۲)د رنجو يا د دارو بوتل-

رنجلومه:(رنج-لُو-مه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ رنجړومه-

رنجونی:(رَن-جو-نی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ رنجړومه-

رنجونی:(رَن-جو-نی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ رنجړومه-

رنجه:(رَن-جه،رَن-جه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خړګوړے- ريښاړه- تريشه- ليشوړه- ريتوړه- ليتاړه- وره او نرۍ ټوټه- چيړه- چيړه- تړانګه- (۲)رخت- ټوټه- ټوکر- (۳)کالی- جامه- لباس-

رنجې رنجې:(رَن-جې-رَن-جې)اسم صفت- ختې ختې- کاړکيتې- ريښې ريښې-

رنځ:(رنځ)اسم- ناروغی- ناجوړی- وږده ناروغی- (۲)کړاؤ- زحمت- رنج- تکليف- درد- مصيبت-

رنځ باريک:(رنځ-با-ريک)اسم- باريک رنځ- نرے رنځ- دق-

رنځړ:(رَن-ځړ)اسم- وګورئ رنځړهٔ-

رنځړهٔ:(رنځ-ړهٔ)اسم- رنځړ- رانځړهٔ- ننځړهٔ- چوړيل- زونه- زرنه- لنځړهٔ- د لمنځې د ونې د جرړو تيل-

رنځړے:(رَن-ځَ-ړے)اسم- واحد- مذکر- رنځور- بيمار- مريض- جمع رنځړی-

رنځغابے:(رنځ-غا-بے)اسم- واحد- مذکر- په غرو کښې پخېدونکې يو قسم کلچه- (افغانستان)-

رنځکه:(رَن-ځَ-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کونګے- پنډورے- د انګورو ونے- ونکولے- ونکلے- د انګورو ګنګورے- (۲)يو قسم ساګ چې د حوارو په پټو کښې راټوکيږی- (افغانستان)-

رنځل:(رَن-ځل)مصدر- رنځورول- ناروغه کول- رنځول-

رنځلے:(رَن-ځَ-لے)اسم معمول- جمع رنځلی- مؤنث رنځلې- وګورئ رنځل-

رنځمن:(رنځ-مَن)اسم صفت- رنځور- بيمار- مريض-

رنځن:(رَن-ځَن)حاصل مصدر- وګورئ رنځل-

رنځنګ:(رَن-ځَنګ)حاصل مصدر- وګورئ رنځل-

رنځنه:(رَن-ځَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ رنځل-

رنځنے:(رَن-ځَ-نے)اسم صفت- رنځ زپلے- جمع رنځنی-

رنځنهٔ:(رنځ-نهٔ)اسم- وګورئ رنځړهٔ-

رنځور:(رَن-ځُور)اسم صفت- رنځمن- رنځړے- ناروغه- ناجوړه- مريض- په مرض اخته-

رنځورتيا:(رَن-ځور-تيا)اسم- (۱)ناروغتيا- (۲)خوارېدنه- خوارږار کېدنه- ناجوړتيا- د ناروغی له کبله وجود خوارېدنه-

رنځورغاړے:(رَن-ځور-غا-ړے)اسم صفت- رنځېدلے- دائمی ناروغ- هغه څوک چې وږده ناروغی لری- هغه څوک چې زيږېدلے او رنځور پوله وی-

رنځورول:(رَن-ځو-رَ-وَل)مصدر- ناروغه کول- ناجوړه کول- په رنځ اخته کول-

رنځورولے:(رَن-ځو-رَ-وَ-لے)اسم معمول- جمع رنځورولی- مؤنث رنځورولې- وګورئ رنځورول-

رنځورون:(رَن-ځو-رَ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ رنځورول-

رنځورونکے:(رَن-ځو-رَ-وُن-کے)اسم فاعل- جمع رنځورونکی- مؤنث رنځورونکې- وګورئ رنځورول-

رنځورونګ:(رَن-ځو-رَ-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ رنځورول-

رنځورونه:(رَن-ځو-رَ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ رنځورول-

رنځوری:(رَن-ځو-ري)اسم- ناروغی- مرض- ناجوړی- رنځ-

رنځورېدل:(رَن-ځو-رې-دَل)مصدر- ناروغه کېدل- ناجوړه کېدل- په رنځ اخته کېدل- بيمارېدل-

رنځورېدلے:(رَن-ځو-رې-دَ-لے)اسم مفعول- جمع رنځورېدلی- مؤنث رنځورېدلې- وګورئ رنځورېدل-

رنځورېدن:(رَن-ځو-رې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ رنځورېدل-

رنځورېدنګ:(رَن-ځو-رې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ رنځورېدل-

رنځورېدنه:(رَن-ځو-رې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ رنځورېدل-

رنځورېدونکے:(رَن-ځو-رې-دُون-کے)اسم فاعل- جمع رنځورېدونکی- مؤنث رنځورېدونکې- وګورئ رنځورېدل-

رنځورېدهٔ:(رَن-ځو-رې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ رنځورېدل-

رنځول:(رَن-ځَ-وَل)مصدر- (۱)کړول- ځورول- (۲)ناروغی وړدول- (۳)خېره وړدول- خېره ځنځول-

رنخولے:(رَن-خُو-ڼلے)اسم مفعول- جمع رنخولي- مؤنث رنخولې- وګورئ رنخول-

رنخون:(رن-خ-وَن)حاصل بمصدر- وګورئ رنخول-

رنخونکے:(رن-خون-کے)اسم فاعل- جمع رنخونکي- مؤنث رنخونکې- وګورئ رنخل-

رنځونکے:(رَن-ځ-ون-کے)اسم فاعل- جمع رنځونکي- مؤنث رنځونکې- وګورئ رنځول-

رنځونګ:(رَن-ځُ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ رنځول-

رنځونه:(رَن-ځ-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ رنځول-

رنځوۀ:(رَن-ځُ-وۀ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ رنځول-

رنځه:(رَن-ځه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وګورئ رنځه- (۲)رنځه- ريخے- ريخ- دَ ګاروي بهيدنه-

رنځيدل:(رَن-ځي-دَل)مصدر- (۱)بيماري ورپيدل- (۲)کړيدل- خوريدل- زوريدل- (۳)يوه خبره يا موضوع ورپيدل- (۴)پۀ نوري رنځ اخته کيدل-

رنځيدلے:(رَن-ځي-دَلے)اسم مفعول- جمع رنځيدلي- مؤنث رنځيدلې- وګورئ رنځيدل-

رنځيدن:(رَن-ځي-دَن)حاصل مصدر- وګورئ رنځيدل-

رنځيدنګ:(رَن-ځي-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ رنځيدل-

رنځيدنه:(رَن-ځي-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ رنځيدل-

رنځيدونکے:(رَن-ځي-دون-کے)اسم فاعل- جمع رنځيدونکي- مؤنث رنځيدونکې- وګورئ رنځيدل-

رنځيدۀ:(رن-ځي-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ رنځيدل-

رند:(رند)اسم- واحد- مذکر- (۱)زيرک- خيرک- (۲)مرومطے- دروغونکے- (۳)بې پروا- ازاد- لاقيده- مست- (۴)زړۀ ور- زرور- تيز- جرأت لرونکے- چالاک- جمع رندان- (م- فارسي)-

رندار:(رن-دار)اسم- واحد- مؤنث- رنداره- ورندار- دَ ورور ښځه- بابۍ- جمع رنداراني-

رنداره:(رَن-دا-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ رندار-

رندکه:(رَن-دَکه)اسم- واحد- مؤنث- داره- پشکه- تيندکه- دوره- دَ ويني يا ابو پهواره (داره)-

رنده:(رَن-ده)اسم- واحد- مؤنث- دَ ترکاڼي يوه اله چې لرګي پرې تروړلے شي-

رندي:(رَن-دي)اسم صفت- (۱)زيرکي- خيرکي- (۲)مرومنه- حيله- (۳)بې پرواني- ازادي- لاقيدي- (۴)چالاکي- تيزي- زړۀ ورتيا-

رنړ:(رَنړ)اسم- ارنړ- ارمنړه- دَ نباتاتي نوم دَ پاره وګورئ ارمنړه-

رنړ:(رَنړ)اسم صفت- (۱)غرړے- سرټمبه- ښچې کلکونکے- (۲)ضلناکه- سرکش- ضدي- لۀ حپلې خبري نه نۀ اوړيدونکے- (۲)اصرار کونکے- بيا بيا غښتونکے- مصر-

رنړه:(رَن-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مروښه- ميروښه- دَ کونړې مقابل- (۲)غريبه- خواره- بې وزلې- دا کلمه دَ کونړې دَ کلمې سره يو ځاې هم استعماليږي لکه کونده رنړه-

رنړه:(رن-ړه)اسم- واحد- مؤنث- ارنړه- ارمنړه- دَ ارنړي تخم- جمع رنړي- دَ نباتاتي نوم دَ پاره وګورئ ارمنړه-

رنړه:(رَن-ړه)اسم صفت- کاسيره- رنړي-

رنړي باز:(رن-ړي-باز)اسم صفت- واحد- مذکر- پۀ ړمو مئين- کنجر باز- جمع رنړي بازان-

رنړيدل:(رن-ړي-دَل)مصدر- (۱)حرې کيدل- سرټمبه کيدل- سرټمبه کيدل- ښچې خرې کيدل- ښچې کلکيدل- شله کيدل- (۲)ځپل کيدل- لۀ خپلې خبرې يا غښتنې څخه نۀ اوښتل- (۳)پۀ تکرار سره غښتنه کيدل- (۴)ميروښه کيدل-

رنړيدلے:(رَن-ړي-دَلے)اسم مفعول- جمع رنړيدلي- مؤنث رنړيدلې- وګورئ رنړيدل-

رنړيدن:(رن-ړي-دَن)حاصل مصدر- وګورئ رنړيدل-

رنړيدنګ:(رَن-ړي-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ رنړيدل-

رنړيدنه:(رَن-ړي-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ رنړيدل-

رنړيدونکے:(رَن-ړي-دون-کے)اسم فاعل- جمع رنړيدونکي- مؤنث رنړيدونکې- وګورئ رنړيدل-

رنړيدۀ:(رَن-ړي-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ رنړيدل-

رنړي:(رن-ړي)اسم صفت- واحد- مؤنث- ګډيدونکې- بېسوا- فاحشه-

رنسانس:(رن-سانس)اسم- وګورئ رونسانس-

رنګ:(رنګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)لون- دَ يو شي لۀ ظاهره معلوميدونکے کيفيت- (۲)ګيره- بڼه- شکل- قواره- (۳)طريقه- طرز- قاعده- (۴)کيفيت- حال- (۵)قسم- راز- ډول- طور- شان- (۶)رونق- بهار- جوبن- برق- ښائست- (۷)نظير- مثل- (۸)مزه- لطف- (۹)دَ تاش دَ پاڼې (پتې) رنګ- جمع رنګونه-

رنګارنګ:(رنګ-ګا-رنګ)اسم- رنګ رنګ- ډول ډول- قسم قسم- راز راز- رقم رقم- رنګ پۀ رنګ- مختلف-

رنګ باخته:(رنګ-باخ-ته)اسم صفت- رنګ الوتے- رنګ پۀ بل رنګ شوے-

رنګ بدي:(رنګ-بَدي)اسم- بې عزتي- خراب نوم ګټنه-

رنګ بنګ:(رنګ-بنګ)اسم صفت- شور پور- سور پور- ات پت- پۀ وينو لړلے-

رنګ پنګ:(رنګ-پنګ)اسم صفت- پۀ رنګ لړلے- پۀ رنګ ککړ- لړلے- (افغانستان)-

www pukhto net

رنګ تړل:(رنګ-ت-ړل)مصدر- خوندناکه فضا جوړول- رونق راوستل- جوړ برابرول-

رنګپ:(رنګ-ګپ)اسم- په رونګه رونګه ژړا- د ناز ژړا-

رنګتې:(رن-ګ-تې)اسم- واحد- مذکر- اورغالی- اوجاغ- اُجاق- نغری- انګیټی- دری ېښې لرونکی د اسپنې نغری-

رنګدار:(رنګ-دار)اسم صفت- رنګ لرونکی- رنګین-

رنګر:(رنګ-ګر)اسم صفت- رنګساز- رنګریز- رنګونکی- رنګ کونکی-

رنګرېز:(رنګ-رېز)اسم- جامې رنګونکی- جمع رنګرېزان- مؤنث رنګرېزه-

رنګرېزي:(رنګ-رې-زي)اسم- (۱)رنګ ورکونه- (۲)د رنګرېز کسب- د رنګ ورکولو کار او پېشه-

رنګړ:(رنګ-ګړ)اسم صفت- (۱)مات ګډ- پرېوتی- د باران سيلی له کبله ملاست فصل- (۲)تار تار لږ دانه دانه ولاړ فصل- رنګی فصل-

رنګړی:(رنګ-ړی)اسم صفت- واحد- مذکر- رنګی- پېنګی- رنګړ- ړانګی- رنګی- هغه فصل چې ګڼ نه وي او بوټي يې کمزوري وي-

رنګزړی:(رنګ-زړ-ړی)اسم صفت- (۱)رنګ زېړی- خجل- خړ- ملامت- شرمنده- (۲- اسم)ملامتيا- خړتيا- خجلت- شرمندګي- (افغانستان)-

رنګ لړول:(رنګ-ل-ړ-ول)مصدر- رنګول-

رنګ ماتی:(رنګ-ما-تی)اسم صفت- رنګ الوتی- رنګ تښتېدلی- چې په مخ يې د ولړخطايي علامې ښکارېدې وي-

رنګمال:(رنګ-مال)اسم- هغه ګوډ چې د رنګ ورکولو کسب کوي- (افغانستان)-

رنګوټ:(رنګ-ګوټ)اسم- رنګروټ- رکروټ- نوي بهرتي شوی سپاهي-

رنګ و راج:(رنګ-و-راج)اسم صفت- ډېره خوشحالي- اسودګي- مالداري-

رنګول:(رنګ-ګ-ول)مصدر- (۱)رنګ ورکول- د رنګ په ذريعه د يو څيز بنيادي حېثيت بدلول- (۲)په دعا بند کول- (۳)مالداروال- مالداره کول- (۴)په چا ډېر احسان کول-

رنګولی:(رنګ-ګ-و-لی)اسم مفعول- جمع رنګولي- مؤنث رنګولې- وګورئ رنګول-

رنګون:(رنګ-ګ-ون)حاصل مصدر- وګورئ رنګول-

رنګونکی:(رنګ-ګ-وون-کی)اسم فاعل- جمع رنګونکي- مؤنث رنګونکې- وګورئ رنګول-

رنګونګ:(رنګ-ګ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ رنګول-

رنګونه:(رنګ-ګ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ رنګول-

رنګه:(رنګ-ګه)اسم- (۱)رنګدار- رنګ لرونکی- (۲)طريقه- لاره-

رنګي:(رنګ-ګي)اسم- (۱)رنګه- رنګداره- (۲)ړولی- رنګيز- رنګين- (۳)رنګريزي- د رنګريزی کسب- د رنګولو ړول يا طريقه-

رنګيا:(رنګ-يا)اسم صفت- رنګين- ښکلی-

رنګيځ:(رنګ-ګيځ)اسم صفت- ښکلی ړولی- ښائسته- رنګيز- رنګداره- رنګه-

رنګيز:(رنګ-ګيز)اسم صفت- وګورئ رنګيځ-

رنګين:(رنګ-ګين)اسم صفت- (۱)رنګارنګ- رنګداره- (۲)ښکلی- ښائسته- (۳)رنګه-

رنګيني:(رنګ-ګي-ني)اسم- مؤنث- (۱)سينګار- ړول- ښائست- (۲)خوش مزاجي-

رنګېدل:(رنګ-ګې-دل)مصدر- (۱)رنګ اخستل- رنګ کېدل- (۲)په دعا ښائسته کېدل-

رنګېدلی:(رنګ-ګې-د-لی)اسم مفعول- جمع رنګېدلي- مؤنث رنګېدلې- وګورئ رنګېدل-

رنګېدن:(رنګ-ګې-دن)حاصل مصدر- وګورئ رنګېدل-

رنګېدنګ:(رنګ-ګې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ رنګېدل-

رنګېدنه:(رنګ-ګې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ رنګېدل-

رنګېدونکی:(رنګ-ګې-دون-کی)اسم فاعل- جمع رنګېدونکي- مؤنث رنګېدونکې- وګورئ رنګېدل-

رنګېده:(رنګ-ګې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ رنګېدل-

رنګي:(رنګ-ګي)اسم صفت- واحد-جمع- مؤنث- (۱)د ګڼې ضد- نرۍ نرۍ- دانه دانه- (۲)چې ګڼې نه وي-

رنګی:(رنګ-ګی)اسم صفت- (۱)رنګړ- رنګړی- د ګڼ ضد- (۲)لږ او لرې لرې-

رنه:(ر-نه/ر-نه)اسم- واحد- مؤنث- مثلث ډوله پټی- درې ګڼه پټي- درې کنجه پټی- (افغانستان)-

رڼ:(رڼ)اسم- اومه ګرمن- کچه ګرمن- خامه ګرمن- بې آشه ګرمن-

رڼا:(ر-ڼا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د تيرې ضد- روښنائي- رڼائي- (۲- صفت)روښانه- روڼه- رڼه- روڼ- رڼ- جمع رڼاګانې-

رڼاګۍ:(ر-ڼا-ګۍ)اسم- واحد- مؤنث- شين غاړی- يو ډول خره مرغۍ-

رڼائي:(ر-ڼا-ئي)اسم- مؤنث- (۱)روڼائي- روڼوالی- (۲)اسودګي- سوکالي- ارامي-

رڼغونې:(ر-ڼه-غو-نې)اسم صفت- واحد- مؤنث- تته رڼا- کمزورې رڼا-

رڼک:(ر-ڼک)اسم- واحد- مذکر- بلب- ګروپ- باټی- قمقمه- د رڼا يا بريښنا هغه باټي چې برق پورې تړې خېژي- (افغانستان)-

رڼکی:(ر-ڼ-کی)اسم- واحد- مذکر- د غوږ خوا ته راوتلی هډوکی- د غوږ شا ته راوتلی هډوکی- جمع رڼکي- (افغانستان)-

رڼکی:(ر-ڼ-کی)اسم صفت- (۱)ځلېدونکی- صيېن- روڼ- (۲)ښکلی- ښائسته-

رڼکۍ:(ر-ڼ-کۍ)اسم- واحد- مؤنث- بلورينه مالګه- د شيشې په شان برېښېدونکې مالګه-

رڼوبی:(ر-ڼو-بی)اسم- واحد- مذکر- رڼې اُبه- روڼې اُبه- مقطرې اُبه- پاکې اُبه- جمع رڼوبي-

رڼوخاۍ:(ر-ڼو-خاۍ)اسم- رڼوخی- ګړو- رڼا- هغه خاۍ چې کوچيان په

خهلو کېږدیو کښې دَ رڼا دَ پاره پکښې اور بلوی- (افغانستان)-
رڼوخے:(رَ-ڼو-خے)اسم- واحد- مذکر- جمع رڼوخي- وګورئ رڼوخاڼ-
رُڼوکے:(رُ-ڼو-کے)اسم- واحد- مذکر- ټپکے- تنمرکے- اجلخے- صتر- ویوونکے- (افغانستان)-
رڼوکے:(رُ-ڼو-کے)اسم- واحد- مذکر- ابرک- ابرق- سپرګہ- شګے ګل- شکوګل- جمع رڼوکي-
رڼول:(رَ-ڼ-وَل)مصدر- (۱)روښانه کول- رڼا کول- (۲)پاکول- صفا کول-
رڼول:(رَ-ڼ-وَل)مصدر- نړول- (۱)ورانول- دَ دېوال یا کوټې ارادتاً غرځول- (۲)ړول- رابېلول- راڼهول- لوړول- راشوکول-
رڼولے:(رَ-ڼ-و-لے)اسمِ مفعول- جمع رڼولي- مؤنث رڼولې- وګورئ رڼول-
رڼون:(رَ-ڼ-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ رڼول-
رڼونګ:(رَ-ڼ-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رڼول-
رڼونه:(رَ-ڼ-و-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ رڼول-
رڼه:(رَ-ڼه)اسم- واحد- مؤنث- دَ رڼ مؤنث شکل- روڼه- شفافه-
رڼه:(رَ-ڼه)اسم- واحد- مؤنث- ریچه- دَ سپوږ الکی یا تُخم- (افغانستان)-
رڼېدل:(رَ-ڼې-دَل)مصدرِ لازم- نړېدل- (۱)ورانېدل- چپه کېدل- (۲)راجدا کېدل- شوکېدل- لوړېدل- شکېدل- راڼهېدل- (افغانستان)-
رڼېدلے:(رَ-ڼې-دَ-لے)اسمِ مفعول- جمع رڼېدلي- مؤنث رڼېدلې- وګورئ رڼېدل-
رڼېدن:(رَ-ڼې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ رڼېدل-
رڼېدنګ:(رَ-ڼې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رڼېدل-
رڼېدنه:(رَ-ڼې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ رڼېدل-
رڼېدونکے:(رَ-ڼې-دُون-کے)اسمِ فاعل- جمع رڼېدونکي- مؤنث رڼېدونکې- وګورئ رڼېدل-
رڼېدهٔ:(رَ-ڼې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ رڼېدل-
رڼے:(رَ-ڼے)اسم- واحد- مذکر- دَ بوټی جرړه چې په دارو کښې پکارولے شي-
رو:(رو)اسم- قراره- سوکه- ورو- په سیاله- دَ ورو بل قرأت-
رو:(رو)اسم- (۱)تری لاره- لاره- (۲)اېهوخر- اتهو- یو قسم لوبیه- (۳)روان- جاری- (۴)تجویز-
رَوا:(رَ-وا)اسم- (۱)حلال- دَ حرام ضد- جائز- مشروع- (۲)مناسب- وړ-
روا:(رَ-وا)اسم- د ورا مغفن شکل- وګورئ ورا-
روابط:(رَ-وا-بِط)اسم- تعلقات- (م- عربی)-
روات:(رُ-وات)اسم - روایت کوونکے- راوی- (م- عربی)-
رواج:(رِ-واج)اسم- (۱)دود- دستور- رسم- لاره- باب- چلند- (۲)ضابطه-
رواجول:(رِ-وا-جه-وَل)مصدر- جاری کول- رواج ورکول-
رواجولے:(رِ-وا-جه-وَ-لے)اسمِ مفعول- جمع رواجولي- مؤنث رواجولې- وګورئ رواجول-
رواجون:(رِ-وا-جه-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ رواجول-
رواجونکے:(رِ-وا-جه-وون-کے)اسمِ فاعل- جمع رواجونکي- مؤنث رواجونکې- وګورئ رواجول-
رواجونګ:(رِ-وا-جه-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رواجول-
رواجونه:(رِ-وا-جه-وَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ رواجول-
رواجي:(رِ-وا-جي)متعلق فعل- دَ دود- دَ رواج- رواج ته منسوب- مروج- شائع-
رواجېدل:(رِ-وا-جې-دَل)مصدر- یابېدل- عامېدل- رواج موندل- دود کېدل- شائع کېدل-
رواجېدلے:(رِ-وا-جې-دَ-لے)اسمِ مفعول- جمع رواجېدلي- مؤنث رواجېدلې- وګورئ رواجېدل-
رواجېدن:(رِ-وا-جې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ رواجېدل-
رواجېدنګ:(رِ-وا-جې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ رواجېدل-
رواجېدنه:(رِ-وا-جې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ رواجېدل-
رواجېدونکے:(رِ-وا-جې-دون-کے)اسمِ فاعل- جمع رواجېدونکي- مؤنث رواجېدونکې- وګورئ رواجېدل-
رواجېدهٔ:(رِ-وا-جې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری او دَ واحد غائب صیغه- وګورئ رواجېدل-
رواح:(رَ-واح)اسم- نماښام ته نژدې وخت-
روادار:(رَ-وا-دار)اسم- لوررنکے- پېرزو کوونکے- د پېرزو خاوند-
رواداری:(رَ-وا-دا-ری)اسم- لورینه- پېرزوینه- لور-
روارو:(رَ-وا-رو)اسم- دَ خلقو کثرت- دَ ډېرو خلقو تګ راتګ-
رواره:(رَ-وا-ره)اسم صفت- د بد ویونکي په مقابل کښې صبر او تحمل کونکے-
رواش:(رَ-واش)اسم- یو قسم بوټے چې جرړې ی د جلابو د پاره پکارولے سي-
رواشه وروی:(رَ-وا-شه-و-وی)اسم- ګهټے- پاستے- چپاتے- لوبه، نری او پلنه ووډی-
روافض:(رَ-وا-فِض)اسم- د رافض جمع- وګورئ رافض-
روان:(رَ-وان)اسم- (۱)چالاک- تلونکے- په حرکت کښې- (۲)بهاند- جاری-
رواڼول:(رَ-وا-ڼ-وَل)مصدر- چالانول- حرکت کښې رواستل- (۲)بهول- بیول- جاری کول-
رواڼولے:(رَ-وا-ڼ-وَ-لے)اسمِ مفعول- جمع رواڼولي- مؤنث رواڼولې- وګورئ رواڼول-
رواڼون:(رَ-وا-ڼ-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ رواڼول-
رواڼونکے:(رَ-وا-ڼ-وون-کے)اسمِ فاعل- جمع رواڼونکي- مؤنث رواڼونکې- وګورئ رواڼول-

ئ (ئې-ول)، ې (ئې-ږ-ول)، ی (یا-لې)، ے (تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

روانونګ:(رَ-وا-نَ-وُنګ)حاصل مصدر- وګورئ روانول-
روانونه:(رَ-وا-نَ-وَنَه)حاصل مصدر- وګورئ روانول-
روانوهٔ:(رَ-وا-نَ-وَهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ روانول-
روانه:(رَ-وا-نَه)اسم- واحد- مؤنث- پروانه- فرمانه- استولے شوے-
رواني:(رَ-وا-نِي)اسم- بهېدنه-
روانېدل:(رَ-وا-نې-دَل)مصدر- (۱)چالانېدل- متحرکه کېدل- (۲)بهېدل- بېېدل- جاري کېدل- (۳)تلل- حرکت کول-
روانېدلے:(رَ-وا-نې-دَ-لے)اسم مفعول- جمع روانېدلي- مؤنث روانېدلې- وګورئ روانېدل-
روانېدن:(رَ-وا-نې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ روانېدل-
روانېدنګ:(رَ-وا-نې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ روانېدل-
روانېدنه:(رَ-وا-نې-دَ-نَه)حاصل مصدر- وګورئ روانېدل-
روانېدونکے:(رَ-وا-نې-دُو-نکے)اسم فاعل- جمع روانېدونکي- مؤنث روانېدونکې- وګورئ روانېدل-
روانېدهٔ:(رَ-وا-نې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ روانېدل-
روايت:(رِ-وا-يت)اسم- واحد- مذکر- (۱)خبرې نقل کونه- ذکر- بيان- حکايت- (۲)قصه- جمع روايتونه-
روايتي:(رِ-وا-يَ-تي)اسم- د روايت- په روايت مربوط- نقلي- د نقل-
روب:(روب)اسم- (۱)عزت- ابرو- آب- (۲)پرتم- شان و شوکت- دبدبه- (۳)سام- ويره- بېره- اثر- (افغانستان)-
روبا:(رو-باه)اسم- واحد- مؤنث- لومبړه- سهلمه- ترورې-
روبرو:(رو-بَ-رو)صفت- مخامخ- مخ په مخ-
روبکار:(رو-بَ-کار)اسم - د حاکم په مخکښې د فيصلې ليکلو کاغذ مخامخ کېدنه- (م- فارسي)-
روپندے:(رو-پَن-دے)اسم- واحد- مذکر- د زنانو يو پسول-
روپوټي:(رو-پو-ټي)اسم تصغير- روپټي- روپکه- د سپکاوي د پاره روپې ته وئيلے شي-
روپۍ:(رو-پۍ)اسم- واحد-جمع- مؤنث- د پاکستان او هندوستان د سکې نوم- شپاړس آنې- سل پېسې- روپيه- د حکومت د خزانې نه جاري شوې سکه چې پرې پېرل پلورل کولے شي-
روټ:(روټ)اسم صفت- روټاک- بې پروا- خوابدے-
روټ:(روټ)اسم- لويه- ګردې- پنډه- خوږه او غوړې لرونکې پوډۍ چې په داش کښې يا د لاندې باندې تودوخې په وسيله سره پخيږي او اوږه يې د غوړو او چينو سره اخښلے شي-
روټاک:(رو-ټاک)اسم صفت- (۱)بې باکه- بې پروا- (۲)شوم- کنجوس- سخت- ممسک- تنګ-

روټاکتوب:(رو-ټا-کَ-توب)اسم- روټاکوالے- بې باکي- بې پروائي- (۲)شومتوب- کنجوسي- سختي- ممسکي- تېنګوالے-
روټاکوالے:(رو-ټا-کَ-وا-لے)اسم- وګورئ روټاکتوب-
روټه:(رو-ټه)اسم- واحد- مؤنث- اَبرېښمينه پروړې- د اَبرېښمو پروړې- هغه پروړې چې د اربښو د اوړو نه پخولے شي-
روټۍ:(رو-ټۍ)اسم- واحد- مؤنث- ډوډۍ- مړۍ- ټيکله- ککوړے- نغن-
روټۍ غم:(رو-ټۍ-غم)اسم- ډوډۍ غم- حريص- اوړاوړے- وږسترګے-
روجائي:(رو-جا-ئي)اسم- هغه څادر يا لويه کپړه چې د بسترې يا کټ د پاسه غوړولے کيږي-
روخان:(رو-خان)اسم- مکن- هغه سورے چې د کوټې په چت کښې د لوګي د وتلو او د نمر د رڼا د راننوتلو د پاره جوړ شوے وي- جمع روخانونه-
روخپاره:(روخ-پا-ره)اسم- د ورخپاره يو قرأت- روزانه مزدوري-
روخپاله:(روخ-پا-لا)اسم- (۱)ورخپاله- (۲)وده- نشونما- غوړېدنه- (افغانستان)-
روخ تېرے:(روخ-تې-رے)اسم صفت- ورخ تېرے- ورخ تېرونکے- کار کسب نه کونکے- (افغانستان)-
روخ ګرخے:(روخ-ګر-خے)اسم صفت- ورخ ګرخ- بدبخته- بدمرغه- هغه څوک چې ورخ يې ګرځېدلې وي- (افغانستان)-
روجه:(رو-جه)اسم- واحد- مذکر- يو قسم واړهٔ انګور-
روح:(روح)اسم- (۱)ساه- ارواح- (۲)زړهٔ- (۳)نيت- جمع روحونه-
روح الامين:(رو-حُل-اَ-مين)اسم- (۱)جبرائيل عليه السلام- (۲)هغه ملائکه چې پېغمبر ته به يې وحي راوړله-
روح القدس:(رو-حُل-قُ-دُس)اسم- (۱)جبرائيل عليه السلام- (۲)د عيسايانو په اصطلاح هغه روح چې په مريم بي بي کښې پوکړے شوے وهٔ او د عيسی عليه السلام د پېدائش موجب شو- (۳)رحماني نفس- (م- عربي)-
روح الله:(رو-حُل-لا)اسم صفت- د حضرت عيسی عليه السلام لقب-
روحاني:(رُو-حا-ني)اسم- د روح سره متعلق- پاک- مقدس- (م- عربي)-
روحانيت:(رو-حا-ني-يت)اسم- روحاني توب- مذهبي توب- د روح سره متعلق خاصيت يا طاقت-
روحي:(رو-حي)اسم- (۱)د روح- په روح پورې مربوط- د ارواح- (۲)شعور- د کرووړو-
روحيات:(رو-حي-يات)اسم- جمع (۱)سپکالوجي- (۲)جُرأت- زړهٔ ورتيا- مورال- (افغانستان)-
روحياتي:(رو-حي-يا-تي)اسم- د روح سره متعلق- په روحياتو پورې مربوط-
روحيه:(رو-حي-يه)اسم- (۱)جرأت- (۲)وضعه- وضعيت-
روخ:(روخ)اسم- (۱)مخ- مقابله- مخامخ- (۲)برابري- ورخ سمېدنه- (۳)رُخ- په شطرنج کښې هغه کوټ (دانه) چې په کُنج کښې ايښودے شي- (افغانستان)-

زبر(ـَـ سره)، زورکے(شل)، زېر(ـِـ کاسره)، پېښ(ـُـ کتاب)، جزم(شکون)، ـٌـ(زړه)، ـۀ(پو-سېي-دهٔ)

روښی:(رو-ښی)اسم- دَ قبلې لورے- دَ قبلې پلو- دَ قبلې خوا-

رود:(رود)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خوړ- لګړ- سم- وړوکے سیند یا خوړ چې اُبۀ پکښې بهیږی- (۲)سیند- سین- دریاب- بحر- جمع رودونه- (م- فارسی)-

رودبار:(رود-بار)اسم- (۱)دَ سیند- دَ رود- پۀ رود پورې مربوط- (۲)هغه زمکه چې دَ رود لاندې وی یا ئې رود نه اُبیږی- (۳)هغه ځائې چې پکښې کښې ولې یا نهرونه بهیږی-

رودخانه:(رود-خا-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)سیند- (۲)دَ سیند د رتلو ځائې- (۳)خوړ- جمع رودخانې-

رودل:(رو-دل)مصدر- (۱)رول- روړل- تے رول- چوړل- (۲)خپېتل- (۳)ربېل- لوکول-

رودلے:(رو-دَ-لے)اسم مفعول- جمع رودلی- مؤنث رودلې- وګورئ رودل-

رودن:(رو-دن)حاصل مصدر- وګورئ رودل-

رودنګ:(رو-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ رودل-

روده:(رو-دۀ-نه)حاصل مصدر- وګورئ رودل-

رودونکے:(رو-دُون-کے)اسم فاعل- جمع رودونکی- مؤنث رودونکې- وګورئ رودل-

رودونے:(رو-دُو-نے)اسم- واحد- مذکر- بې موره وزے- هغه وزے چې مور ئې مړه وی-

روده:(رو-ده)اسم- واحد- مؤنث- دِ موسیقی یوه آله- جمع رودی-

روده:(رو-ده)اسم- واحد- مؤنث- (۱)لاره- لیاره- لار- سړک- (۲)نښه- نښانه- نښکه- علامه- اثر- جمع رودې- (افغانستان)-

رودۀ:(رو-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ رودل-

رودی:(رو-دی)اسم- هغه زمکه چې دَ سیند دَ اُبو نه سیرابیږی-

رودے:(رو-دے)اسم- واحد- مذکر- اموخته- بلد-

روړه:(رو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)لویه کولمه- غټه کولمه- اتړه- (۲)دَ پوستکی یا بدن د پاسه ټول شوے خیرے-

روړه مست:(رو-ړه-مست)اسم صفت- (۱)چړکړ- فقیر- ګداګر- نیهه خوړ- چړ غښتونکے- (۲)حوار کبړژن- هغه څوک چې وی خولۍ او خبری د مړو کوی-

روړے:(رو-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)یو قسم ساګ- (۲)یو قسم ټوپک-

رو رو:(رو-رو)اسم صفت- (۱)ژر ژر- رندے رندے- چټک چټک- پۀ منډه منډه- منڌے منڌے- (۲)ورو ورو- پۀ مره مزه- سوکه سوکه- قلار قلار-

روړ:(روړ)اسم- پوخوالے- د فصل یا میوی پخیدنه-

روړل:(رو-ړل)مصدر- سره پیچل- عسل-

روړلے:(رو-ړلے)اسم مفعول- جمع روړلی- مؤنث روړلې- وګورئ روړل-

روړن:(رو-ړن)حاصل مصدر- وګورئ روړل-

روړنګ:(رو-ړنګ)حاصل مصدر- وګورئ روړل-

روړنه:(رو-ړنه)حاصل مصدر- وګورئ روړل-

روړونکے:(رو-ړون-کے)اسم فاعل- جمع روړونکی- مؤنث روړونکې- وګورئ روړل-

روږه:(رو-ږه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کلک- سخت- منجمد- ټینګ- (۲)وچکالی- سوکړه- خشکالی- (۳)مات شوی کانی-

روږه:(رو-ږه)اسم- واحد- مؤنث- ګنډله پوړی- ګوه ږیه پوړی-

روږه:(رو-ږه)اسم- واحد- مؤنث- انګولا- انګلیدا- کوله- کولې- دَ سپی اوږد اوسکارے چې خلق ئې سپیره کړی- جمع روږې-

روږی ټک:(رو-ږی-ټک)اسم- واحد- مذکر- کاڼی ماتونکے سړے- هغه څوک چې د سړکونو جوړولو کاڼی ماتوی-

روږیا کوریا:(روږیا-کوریا)اسم- ټوکړې ټوکړې- عام طور سره دَ ښهرو د پاره استعمالولے شی-

روزان:(رو-زان)اسم- واحد- مذکر- وتکے- وت- مګ- موری- (م- فارسی)-

روزانه:(رو-زا-نه)اسم- واحد- مؤنث- ورځنے- د ورځې- روزمره- یومی-

روزګار:(روز-ګار)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ ورځو مجموعه- ژوند- (۲)زمانه- نړی- دنیا- (۳)ګوزاره- ګذران- (۴)فصل- موسم- (۵)کسب- کار- پیشه- (م- فارسی)-

روزل:(رو-زل)مصدر- تربیه کول- پالل-

روزلے:(رو-زَلے)اسم مفعول- جمع روزلی- مؤنث روزلې- وګورئ روزل-

روزمانه:(روز-ما-نه)اسم- واحد- مؤنث- کوټه- د حیواناتو دَ لنګتون وخت- جمع روزمانې- (افغانستان)-

روزن:(رو-زن)حاصل مصدر- وګورئ روزل-

روزنامه:(روز-نا-مه)اسم- روزانه وتونکے اخبار- جمع روزنامې-

روزنتون:(رو-زن-تون)اسم- د روزنې ځائے- روزنتون- تربیت ګاه- (افغانستان)-

روزنګ:(رو-زنګ)حاصل مصدر- وګورئ روزل-

روزنه:(رو-زنه)حاصل مصدر- وګورئ روزل-

روزونکے:(رو-زون-کے)اسم فاعل- جمع روزونکی- مونث روزونکې- وګورئ روزل-

روزونے:(رو-زو-نے)اسم فاعل صفت- (۱)دَ روزنې- د تربیې- (۲)تربیه کونکے- روزونکے-

روژه:(رو-ژه)اسم- واحد- مؤنث- روژه-

روژه دار:(رو-ژه-دار)اسم- روژه دار- روژه ساتونکے-

روزی:(رو-زی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خوراک- رزق- خواړه- (۲)قسمت- برخه-

روزی خور:(رو-زی-خور)اسم صفت- قسمت خور یا د برخې خاوند-

روزی رسان:(رو-زی-رسان)اسم صفت- روزی ورکونکے- روزی رسونکے- رازق- خښتن تعالی-

www pukhto.net

روزینه:[رو-زي-نه]اسم- واحد- مؤنث- توبه- ورځنی خوراک- ورځنی جیره- د یولې ورځې معاوضه-

روژاتي:[رو-ژا-تي]اسم- واحد- مذکر- روژتي- روژه نیونکې- روژه ساتونکې-

روژتي:[رو-ژ-تي]اسم- وګورئ روژاتي-

روژنې:[رو-ژ-نې]اسم صفت- واحد- مذکر- روژه کالې- همېشه روژه نیونکې- هغه څوک چې تل ئ روژه وي-

روژه:[رو-ژه]اسم- واحد- مؤنث- (۱)روزه- رمضان- د هجری کال نهمه میاشت چې د شوقدر نه رووستو راځی- (۲)دٔ بوزه ضد-

روژه بوزه:[رو-ژه-بو-زه]اسم- الې خلې- ناړې سوړې- هلې ځلې-

روژه دار:[رو-ژه-دار]اسم صفت- روزه دار- روژتي- روژه نیونکې-

روژه کالې:[رو-ژه-کا-لې]اسم صفت- هغه څوک چې دٔ کال دٔ سر نه تر اخره پوری روژې نیسی- روژنې-

روژه مات:[رو-ژه-مات]اسم- روژه ماتې- دٔ روژې دٔ ماتولو وخت لو سامان- (افغانستان)-

روژه ماتې:[رو-ژه-ما-تې]اسم- واحد- مذکر- جمع روژه ماتي- وګورئ روژه مات-

روږد:[رو-ږد]اسم صفت- روږدې- اموخته- عادي- بلد- اشنا-

روږدتوب:[رو-ږد-توب]اسم- وګورئ روږدوالې-

روږدوالې:[رو-ږد-وا-لې]اسم- روږدېدنه- اموخته کېدنه- اموختوب- روږدتوب- بلدتیا- ولدېدنه- بلدېدنه- بلدوالې-

روږدول:[رو-ږ-د-ول]مصدر- روږدې کول- بلدول- عادت کول- عادي کول- اموخته کول- ولدول- اشنا کول-

روږدولې:[رو-ږ-د-و-لې]اسم مفعول- جمع روږدولي- مؤنث روږدولې- وګورئ روږدول-

روږدون:[رو-ږ-د-ون]حاصل مصدر- وګورئ روږدول-

روږدونکې:[رو-ږ-د-ون-کې]اسم فاعل- جمع روږدونکي- مؤنث روږدونکې- وګورئ روږدول-

روږدونګ:[رو-ږ-د-ونګ]حاصل مصدر- وګورئ روږدول-

روږدونه:[رو-ږ-د-و-نه]حاصل مصدر- وګورئ روږدول-

روږدوهٔ:[رو-ږ-د-وهٔ]حاصل مصدر او د ماضی استمراری دٔ واحد غائب صیغه- وګورئ روږدول-

روږدېدل:[رو-ږ-دې-دل]مصدر- عادت کېدل- اموخته کېدل- ولدېدل- بلدېدل- اشنا کېدل-

روږدېدلې:[رو-ږ-دې-د-لې]اسم مفعول- جمع روږدېدلي- مؤنث روږدېدلې- وګورئ روږدېدل-

روږدېدن:[رو-ږ-دې-دن]حاصل مصدر- وګورئ روږدېدل-

روږدېدنګ:[رو-ږ-دې-دنګ]حاصل مصدر- وګورئ روږدېدل-

روږدېدنه:[رو-ږ-دې-د-نه]حاصل مصدر- وګورئ روږدېدل-

روږدېدونکې:[رو-ږ-دې-دون-کې]اسم فاعل- جمع روږدېدونکي- مؤنث روږدېدونکې- وګورئ روږدېدل-

روږدېدهٔ:[رو-ږ-دې-دهٔ]حاصل مصدر او دٔ ماضی استمراری دٔ واحد غائب صیغه- وګورئ روږدېدل-

روږدې:[رو-ږ-دې]اسم صفت- ولد- بلد- عادي- اموخته- اشنا-

روږی بوږی:[رو-ږي-بو-ږي]اسم- غبرګ پېچ- نرې نرې- میده میده- ریچې ریچې- ځیرې ویرې- ځیرې پیرې- پارچه پارچه- ټوټه ټوټه-

روسپي:[روس-پي]اسم صفت- لنډۍ- لولی- بدلمنه- فاحشه-

روستائی:[روس-تا-ئي]اسم صفت- بانډیسی- ناپوهه-

روسی:[رو-سی]اسم- روسی ژبه-

روسیاه:[رو-سیاه]اسم صفت- تورمخی- مخ تورن- (م- فارسی)-

روسې:[رو-سې]اسم- واحد- مذکر- دٔ روس وسېدونکې- جمع روسیان-

روش:[رو-ش]اسم- (۱)چلند- چلښت- ګوزاره- چلېدنه- یون- رفتار- (۲)دود- دستور- طریقه- (م- فارسی)-

روشن:[رو-شن]اسم-(۱)روښانه- رڼا کونکې- ځلان- ځلاند- (۲)واضحه- صفا- ظاهر- (م- فارسی)-

روشن دماغ:[رو-شن-د-ماغ]اسم- دٔ روښانه دماغ څښتن- دٔ وهت فکر لرونکې- هوښیار- عاقل- (۲)نسوار-

روشن فکر:[رو-شن-فکر]اسم- روښانه فکر لرونکې- جمع روشنفکران- (م- فارسی)-

روشنی:[روش-نی]اسم صفت- رڼائی- روښنائی- (م- فارسی)-

روشې بوټې:[رو-شې-بو-ټې]اسم- واحد- مذکر- دٔ شیشتو، رشکې غندی غرنیز بوټې- جمع روشې بوټي-

روښان:[رو-ښان]صفت- (۱)روڼ- ځلاند- (۲)ځرګند- ښکاره-

روښانتوب:[رو-ښان-توب]اسم- روښنائی- رڼائی- روښانتیا-

روښانتیا:[رو-ښان-تیا]اسم- وګورئ روښانتوب-

روښاند:[رو-ښاند]اسم صفت- (۱)روښان اندې- روشن فکر- پوه- منور- (۲)دٔ مترقی پوهې خاوند-

روښانول:[رو-ښا-نول]مصدر- (۱)رڼا کول- رڼول- (۲)ښکاره کول- څرګندول- عیانول-

روښانولې:[رو-ښا-ن-و-لې]اسم مفعول- جمع روښانولي- مؤنث روښانولې- وګورئ روښانول-

روښانون:[رو-ښا-ن-ون]حاصل مصدر- وګورئ روښانول-

روښانونکې:[رو-ښا-ن-ون-کې]اسم فاعل- جمع روښانونکي- مؤنث روښانونکې- وګورئ روښانول-

روښانونګ:[رو-ښا-ن-ونګ]حاصل مصدر- وګورئ روښانول-

روښانونه:[رو-ښا-ن-و-نه]حاصل مصدر- وګورئ روښانول-

روښانوهٔ:[رو-ښا-ن-وهٔ]حاصل مصدر او دٔ ماضی استمراری دٔ واحد غائب

www.pukhto.net

صيغه- وګورئ روښانول-

روښانه:(رو-ښا-نه)اسم صفت- وګورئ روښان-

روښاني:(رو-ښا-ني)اسم- دَ روښان- روښان ته منسوب-

روښانېدل:(رو-ښا-نې-دَل)مصدر- (۱)رڼا کېدل- (۲)ښکاره کېدل- جوتېدل- ځرګندېدل- (۳)ځلېدل-

روښانېدلے:(رو-ښا-نې-دَ-لے)اسم مفعول- جمع روښانېدلي- مؤنث روښانېدلې- وګورئ روښانېدل-

روښانېدن:(رو-ښا-نې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ روښانېدل-

روښانېدنګ:(رو-ښا-نې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ روښانېدل-

روښانېدنه:(رو-ښا-نې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ روښانېدل-

روښانېدونکے:(رو-ښا-نې-دُون-کے)اسم فاعل- جمع روښانېدونکي- مؤنث روښانېدونکې- وګورئ روښانېدل-

روښانېدهٔ:(رو-ښا-نې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ روښانېدل-

روښنائي:(روښ-نا-ئي)اسم صفت- (۱)رڼائي- نُور- (۲)ځلا- ځل-

روښه:(رو-ښه)اسم- واحد- مؤنث- حلوا- الوا- وريښه- وېرلې- (افغانستان)-

روښه وال:(رو-ښه-وال)اسم- روښے- حلوائي- هغه څوک چې حلوا پخوي يا دَ حلوا دَ خرڅولو کار کوي- (افغانستان)-

روښه ونه:(رو-ښه-وَ-نه)اسم- واحد- مؤنث- دَ کېلې وُنه- (افغانستان)-

روښے:(رو-ښے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ روښه وال- جمع روښي-

روضه:(رو-ضه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)باغ- بڼ- (۲)ګلزار- ګلستان- (۲)شنېلے- سبزه زار- شنه- مزار- زيارت- قبر- دَ ولي الله قبر- (م- عربي)-

روغ:(روغ)اسم صفت- (۱)جوړ- سالم- صحتمند- تندرست- سم- (۲)صادق- بې جنجاله- په تجارتي چارو کښې روغ-

روغاني:(رو-غا-ني)اسم- واحد- مؤنث- دَ تنور پراټه- روغني-

روغبړ:(روغ-بړ)اسم- ببره ګره- ستري مشي- جوړ تازه- روغ جوړ- دَ دوؤ کسانو يا زياتو کسانو مخامخ کېدو په وخت دَ لاس ورکولو يا غېږ ورکولو په طرز کښې دَ جوړ ناجوړ پښتنه او خبرې اترې-

روغتوب:(روغ-توب)اسم- رغوالے- روغتيا- جوړوالے- جوړتوب- صحت- جوړښت- دَ وجود دَ روح او اعصابو سلامتي-

روغتون:(روغ-تون)اسم- شفاخانه- دَ بيمارانو دَ علاج او دَ دارو درملو ځائ- (افغانستان)-

روغتيا:(روغ-تيا)اسم- وګورئ روغتوب-

روغتياپال:(روغ-تيا-پال)اسم- دَ عامې روغتيا هغه مامور چې دَ ښار او خوارښا په موټلونو، مېيو او کوڅو کښې دَ خوراکي ګيزونو ګارنې ننده لري- (افغانستان)-

روغ جوړ:(روغ-جوړ)اسم- روغ رمټ- بالکل روغ- بيخي روغ- صحيح سالم-

روغ رمے-

روغخے:(روغ-خے)اسم- واحد- مذکر- هسپتال- روغتون- (افغانستان)-

روغ رمټ:(روغ-رَ-مټ)اسم صفت- وګورئ روغ جوړ- مؤنث روغه رمټه-

روغ رمټه:(روغ-رَم-ټه)اسم صفت- (مرکب)- روغ رمټ- درست- صحيح سالم- ټول ټال-

روغ رمے:(روغ-رَ-مے)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ روغ جوړ- مؤنث روغ رمه- جمع مؤنث روغ رمې-

روغ موټ:(روغ-موټ)اسم صفت- روغ رمټ- روغ جوړ- جګ جوړ- صحت ياب-

روغني:(رو-غَ-ني)اسم- (۱)روغن دار- په تنور پخ شوې هغه ډوډۍ چې په مېنځ کښې ئې غوړي اچولے شوے وي- روغني- روغاني- (۲)غوړه روټي-

روغنيات:(رو-غَ-نى-يات)اسم- ګريس- تېل- غوړي- غوړ لرونکې ګيزونه-

روغ نيتي:(روغ-نيـ-تي)اسم- اخلاص- مينه- پاک نيت- صداقت-

روغ نيتے:(روغ-نيـ-تے)اسم صفت- واحد- مذکر- سپين زړے- پاک زړے- اخلاصمن- سپين نيتے- سپين ږاګے- هغه څوک چې نيت ئې پاک وي او درغلي پکښې نهٔ وي-

روغني:(رو-غَ-ني)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ روغني-

روغوالے:(روغ-وا-لے)اسم- وګورئ روغتوب-

روغول:(رو-غَ-وَل)مصدر- (۱)جوړول- شفا ورکول- ښهٔ کول- سازول- (۲)سمول- ترميمول- (۳)پخلا کول- جوړه راوستل- اختلاف لرې کول- (۴)رغل- بخښل- دَ دښمن جزا بخښل-

روغولے:(رو-غَ-وَ-لے)اسم مفعول- جمع روغولي- مؤنث روغولې- وګورئ روغول-

روغون:(رو-غَ-وُن)حاصل مصدر- وګورئ روغول-

روغونکے:(رو-غَ-وُن-کے)اسم فاعل- جمع روغونکي- مؤنث روغونکې- وګورئ روغول-

روغونګ:(رو-غَ-وُنګ)حاصل مصدر- وګورئ روغول-

روغونه:(رو-غَ-وُ-نه)حاصل مصدر- وګورئ روغول-

روغوهٔ:(رو-غَ-وهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ روغول-

روغه:(رو-غه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)جوړه- صلح- پخلا کېدنه- پخلا کېدهٔ- موافقه- سوله- (۲)سمه- درسته- (۳)دَ روغ مؤنث- جمع روغې-

روغه جوړه:(رو-غه-جو-ړه)اسم مرکب- جوړه جاړه- صلح- روغه-

روغه ليک:(رو-غه-ليک)اسم صفت- صلح نامه- راضي نامه- عهدنامه- اقرارنامه- دَ روغې يا جوړې لوظنامه- (افغانستان)-

روغه وال:(رو-غه-وال)اسم- (۱)مينځګړے- مينځګړے- درېمګړے- درېم- ثالث- هغه څوک چې دَ دوؤ دښمندارو تر مينځه روغه راولي- (۲)هغه څوک چې دښمن ونهٔ لري-

روغېدل:(رو-غې-دَل)مصدر- جوړېدل- شفا موندل- سازېدل- صحت موندل-

www.pukhto.net

بهٔ کېدل- رغېدل- (۲)ترمیمېدل- صحېدل- (۳)بخښلے کېدل- عفوه کېدل- بخښل کېدل- (۴)پخلا کېدل-

روغېدلے:(رو-غې-دَ-لے)اسم مفعول- جمع روغېدلی- مؤنث روغېدلې- وګورئ روغېدل-

روغېدن:(رو-غې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ روغېدل-

روغېدنګ:(رو-غې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ روغېدل-

روغېدنه:(رو-غې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ روغېدل-

روغېدونکے:(رو-غې-دُون-کے)اسم فاعل- جمع روغېدونکی- مؤنث روغېدونکې- وګورئ روغېدل-

روغېدهٔ:(رو-غې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری دٔ واحد غائب صیغه- وګورئ روغېدل-

رؤف:(ر-ووف)اسم صفت- (۱)مهربان- مشفق- (۲)دٔ الله تعالیٰ یو صفتی نوم- (م- عربی)-

روک:(روک)اسم- واحد- مذکر- پتلون- (افغانستان)-

روک:(روک)اسم- نقد- نقدی- روپی- کلهه- چاندی- خزانه

روک:(رُوک)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)پاک زړے- صادق- ساده- (۲)څرګند- جوت- ښکاره-

روک پوک:(روک-پوک)اسم- وګورئ رک پک-

روک پهٔ روکه:(روک-پهٔ-رو-که)لاس پهٔ لاس- نقد پهٔ نقد-

روکړ:(رو-کړ)اسم صفت- هغه کتاب چې پکښې دٔ نقدو روپیو حساب کتاب ساتلے شی-

روکو:(رو-کو)اسم- دٔ مشر ورور لقب- (افغانستان)-

روکه:(رو-که)اسم- واحد- مؤنث- روپی-

روګ:(روګ)اسم- (۱)دٔ څپلی تسمه- (۲)دٔ کمربند تسمه- پټی- (۳)دٔ سنیو پرتوګ- (افغانستان)-

روګ بوګ:(روګ-بوګ)اسم صفت- روګې بوګې- څېرې وېرې- څیری پیری- بڅه بڅه- تراړی تراړی-

روګردان:(رو-ګر-دان)اسم- مخ اړونکے- نافرماني کونکے- مؤنث روګردانه- (م- فارسی)-

روګرداني:(رو-ګر-دا-ني)اسم- مخ اړونه- مخالفت کونه- نافرماني کونه-

روګرول:(رو-ګهٔ-ر-ول)مصدر- اموخته کول- عادت کول-

روګرولے:(رو-ګهٔ-ر-ولے)اسم مفعول- جمع روګرولی- مؤنث روګرولې- وګورئ روګرول-

روګرون:(رو-ګهٔ-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ روګرول-

روګرونکے:(رو-ګهٔ-ر-ون-کے)اسم فاعل- جمع روګرونکی- مؤنث روګرونکې- وګورئ روګرول-

روګرونګ:(رو-ګهٔ-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ روګرول-

روګرونه:(رو-ګهٔ-ر-ونه)حاصل مصدر- وګورئ روګرول-

روګودر:(رو-ګو-در)اسم- لاره- بندوبست-

روګوے:(رو-ګهٔ-وے)اسم- جونی- دکوے- ولاړ- د کار سره بلد شوے حیوان-

روګه:(روهٔ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- ورګه- وروه- ورګی- یوه زړه حشره-

روګه:(رو-ګه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ګټه- ګټه وټه- برغه- نفع- حاصل- امن- (۲)وصف- خوبی- ښیګړه- جمع روګی-

روګے:(رو-ګے)اسم تصغیر- دٔ "رو" مصغر- وړه او نری لاره-

رول:(رول)اسم- (۱)نقش- سهم- برخه- پاټه- عمل- چار- وظیفه- دنده- (۲)هغه کار یا عمل چې دٔ سینما یا تیاتر لوبغاړے یې دٔ هنری "موضوع" پهٔ اساس ترسره کوی- (۳)قاعده- اصول- مقررات- (۴)کړه- کړی- حلقه- الفه- (۵)سټیرنګ- دٔ موټرو لاریو یو اړخ نه بل اړخ ته دٔ ګرځولو منظیمونکې آله- (۶)وګورئ رولر- (افغانستان)-

رول:(رهٔ-ول)مصدر- رودل- رابښکل- راکښل- چوپل- تی رودل-

رولر:(رو-لر)اسم- رول- دٔ اوسپنې درنه آله چې موټر یا لاری پسې وروستو یا مخکښې تړلې وی او پلنهٔ او لوړهٔ ځایونه پرې کلکوی- (م- انګریزی)-

رولے:(رهٔ-و-لے)اسم مفعول- جمع رولی- مؤنث رولې- وګورئ رول-

روم:(رهٔ-وم)فعل- چوپم- دٔ رودلو او رولو څخه دٔ مفرد متکلم جوړه شوې صیغه-

رومال:(رو-مال)اسم- واحد- مذکر- دسمال- رومیال- ریمال- جمع رومالونه-

رومان:(رو-مان)اسم- واحد- مذکر- (۱)رومانس- حکایت- داستان- افسانه- ناول- (۲)دٔ حماسی ادب یو قسم چې دٔ انساني ژوند پېچلې پروسه دٔ حکایت او داستان پهٔ ډول منعکسه شی-

روماني:(رو-ما-ني)اسم- دٔ رومان سره متعلق- وګورئ رومان-

رومبڅوی:(روم-به-څوی)اسم- شیروالی- لرکیمه- بېخی وړه کبلمه- (افغانستان)-

رومی:(رو-می)اسم- باټینګر- سرهٔ بانجان- رومی بانجان-

رومیال:(روم-یال)اسم- واحد- مذکر- وګورئ رومال-

رومی:(رو-می)اسم- ښځه- بلا- عفونت- هغه ښځه چې دٔ ښېې ګرځی خلق ویروی او یا ئې بیماروی-

رون:(رون)اسم- (۱)رون- وار- نوبت- ځل- چل- (۲)روڼ- پټون- لینګے- رنګون- اړخ- (افغانستان)-

رون:(رهٔ-ون)حاصل مصدر- وګورئ رول-

روند:(ر-وند)اسم صفت- (۱)جاری- بهاند- (۲)روان- تلونکے- رمی- رونده-

رونده:(ر-ون-ده)اسم صفت- واحد- مؤنث- وګورئ روند-

روندے:(ر-ون-دے)اسم صفت- (۱)هٔ نس- اسهال شوے- اسهال- جاری- هغه ماشوم چې دستونه کوی- (۲)روند- تلونکے- د تګ پهٔ حال کښې-

رونړ:(رونړ)اسم- واحد- مذکر- ورون- زنګون- پټون- لینګے- اړخ-

رونق:(رو-نق)اسم صفت- (۱)ښهٔ والے- صوالے- (۲)خوند- مزه- (۳)ښکلا- ښائیست- (۴)شان- پرتم- (۵)پرمختیا- پهٔ کار کښې پرمختګ- (۶)ځلا-

www.pukhto.net

خل- خليدنه- رڼا- روښنائي-

رونکے:(رُو-رون-کے)اسم فاعل- جمع رونکي- مؤنث رونکې- وګورئ رول-

رونګ:(رُو-نګ)حاصل مصدر- وګورئ رول-

رونګ:(رونګ)اسم- واحد- مذکر- هغه لرګے چې د سمبار د کندې په مېنځ کښې وي.

رونګه:(رونګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)لوېږنده- تندرکے- اجلځے- (۲)ستر- پړونکے- د غوږ او تندې تر مېنځه ځائې-

روني:(رو-نيِ)اسم- واحد- مؤنث- تے رودونکې جينۍ- تې خوره جلکۍ- هغه جينۍ چې تے روي- (افغانستان)-

روڼ:(روڼ)اسم صفت- (۱)ځلانده- ځلند- روښان- (۲)ښکاره- څرګند-

روڼ:(روڼ)اسم- (۱)وار- نوبت- چل- پلا- ځل- (۲)نظم- ترببت- (۳)د توپې يو قسم کولي-

روڼائي:(رو-ڼا-ئي)اسم- (۱)رڼائي- (۲)ځواني-

روڼکه:(روڼ-که)اسم- واحد- مؤنث- رونګه- تندرکے- تنکے- څټه- د غوږ او تندې تر مېنځه برخه- جمع روڼکې-

روڼکي:(روڼ-کي)اسم- واحد- مؤنث- ريچه- د سپوږ اګې- د سپوږي تخم-

روڼل:(رو-ڼل)مصدر- رڼا کول- روښانه کول-

روڼلے:(رو-ڼلے)اسم مفعول- جمع روڼلي- مؤنث روڼلې- وګورئ روڼل-

روڼوالے:(روڼ-والے)اسم- روښنائي- رڼائي-

روڼول:(رو-ڼه-ول)مصدر- (۱)روښانه کول- رڼا کول- (۲)رڼا ته ښکاره کول- رڼا ته اېستل- (۳)پاکول- صافول- (۴)شپه په وېښه تېرول- شپه ړول- شوګير کول- (۵)دعوئ فېصله کول- دعوئ خلاصول- (۶)په وار کول- په نوبت کول- (۷)ترتيبول- مرتبول- منظمول- په ترتيب سره اېښودل-

روڼولے:(رُو-ڼه-وَلے)اسم مفعول- جمع روڼولي- مؤنث روڼولې- وګورئ روڼول-

روڼون:(رو-ڼه-ون)حاصل مصدر- وګورئ روڼول-

روڼونکے:(رو-ڼ-وون-کے)اسم فاعل- جمع روڼونکي- مؤنث روڼونکې- وګورئ روڼول-

روڼونګ:(رو-ڼه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ روڼول-

روڼونه:(رو-ڼه-ونه)حاصل مصدر- وګورئ روڼول-

روڼونے:(رو-ڼه-وو-نے)اسم فاعل- جمع روڼوني- مؤنث روڼونې- وګورئ روڼول-

روڼوه:(رو-ڼه-وه)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ روڼول-

روڼېدل:(رو-ڼې-دل)مصدر- (۱)رڼا کېدل- روښانه کېدل- (۲)صفا کېدل- پاکېدل- (۳)په وار کېدل-

روڼېدلے:(رو-ڼې-دلے)اسم مفعول- جمع روڼېدلي- مؤنث روڼېدلې- وګورئ روڼېدل-

روڼېدن:(رو-ڼې-دن)حاصل مصدر- وګورئ روڼېدل-

روڼېدنګ:(رو-ڼې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ روڼېدل-

روڼېدونکے:(رو-ڼې-دون-کے)اسم فاعل- جمع روڼېدونکي- مؤنث روڼېدونکې- وګورئ روڼېدل-

روڼېده:(رو-ڼې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ روڼېدل-

روڼه:(رو-ڼه)اسم صفت- (۱)روښانه- د روڼ مؤنث- (۲)رڼې- ړوې- يو قسم بوټے چې بيخ ئې دواګانو کښې هم استعمالېږي- (افغانستان)-

روڼه سترګه:(رو-ڼه-ستر-ګه)اسم- رڼه سترګه- د سبا سترګه- د سحر سترګه- د سحر ستورے-

روني:(رو-ني)اسم- تے رودونکې وړه جينۍ- هغه جينۍ چې تازه ئې سرکې روڼې کړې وي- (افغانستان)-

روڼے:(رو-ڼے)اسم صفت- صېقل-

روڼے:(رو-ڼے)اسم- واحد- مذکر- لونے- رنے- ررونے- وروڼے- اروڼے- جمع روڼي-

روول:(رو-ول)مصدر- رورل- رَول- چوشل- د تې نه پې روول- د تې نه په خله بلندې پې راکښل- (افغانستان)-

روول:(رو-ول)مصدر- جاري کول- عادي حالت نه اړول- چالانه کول- حرکت ورکول-

روونکے:(رو-وون-کے)اسم فاعل- جمع روونکي- مؤنث روونکې- وګورئ روول-

روونه:(رو-ونه)حاصل مصدر- وګورئ روول-

روونے:(رو-وو-نے)اسم فاعل- جمع رووني- مؤنث روونې- وګورئ روول-

رووے:(رو-وے)اسم- واحد- مذکر- پې رودونکے ماشوم- جمع رووي-

رووے:(رو-وے)اسم- واحد- مذکر- سُفره- دسترخوان- کبے- د ډوډۍ شخولے-

روهو:(رو-هو)اسم- واحد- مذکر- راهو- يو قسم ضدي کب-

روهېدل:(رو-هې-دل)مصدر- روښدل- (۱)د کږو بزو د خپلو بچو سره د يو ځائې کېدو په وخت مېں مېں کول- (۲)اېرې وهل- د خلې جنګ کول-

روي:(رُو-وي)حرف- د قافيې اخري بار بار راتلونکے حرف-

رويا:(رو-يا)اسم- خوب- خوب لېدنه-

روياري:(رو-يا-ري)اسم- د رويا سره متعلق- وګورئ رويا-

روئبار:(روئ-بار)اسم- واحد- مذکر- قاصد- پېغام رسونکے-

روئباري:(روئ-باري)اسم- پېغام رساني-

روئ بند:(روئ-بند)اسم- روبند- د بورقعې محکينې حصه- اونے- لچک- سپوږے- نقاب- مخ پټونے-

رويت:(رو-يت)اسم- ديدار- ديدن- کتنه- (م- عربي)-

رويتوب:(رُوي-توب)اسم- حرص- چالاکي- روے راتے-

روئيداد:(روئ-داد)اسم- واحد- مذکر- پېښه- واقعه- حادثه- شخره- د حال

ئ (ځي-رړل)، ي (ځې-ره-وړل)، ې (ځيا-ځيې)، ے (تن-ديے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www pukhto.net

رینخنه:(رین-خـنـه)حاصلِ مصدر- وګورئ رینخل-
رینخه:(رین-خه)اسم- واحد- مؤنث- ریخ- دست- جمع رینخې-
رینده:(رین-ده)اسم- واحد- مؤنث- رینه- د چمیارانو یوه آله چې څېلی پرې کېږلے شی- جمع ریندې-
ریندے:(رین-دے)اسم صفت- پوخناً- د عمر او وخت نه زیات پوخ-
رینګ:(رینګ)اسم صوت- (۱)د ژړا اواز- ژړېدنه- (۲)هغه کړی چې د څېلی پوندې پرې ترلے کیږی- (اسم)-
رینګارے:(رینګ-ګارے)اسم صوت- د ژړا نرے نرے اواز-
رینګت:(رینګ-ګت)اسم صوت- رینګ رینګ کونه-
رینګړے:(رینګ-ړے)اسم- واحد- مذکر- د بارتنګ ونه- نباتاتی نوم سیډ آف فلیورټ (SEED OF FLAWART)- جمع رینګړی-
رینګن:(رینګ-ګن)اسم صفت- رینګه رینګه کوېکے-
رینګول:(رینګ-ګـول)مصدر- ماشوم د تنګولو په وجه په رینګه رینګه سَر کول- د ماشوم بې وجې مسلسل په خاص انداز کښې تنګول او ژړول-
رینګون:(رینګ-ګـون)حاصلِ مصدر- وګورئ رینګول-
رینګونکے:(رینګ-ګـوون-کے)اسم فاعل- جمع رینګونکی- مؤنث رینګونکې- وګورئ رینګول-
رینګونګ:(رینګ-ګـونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رینګول-
رینګونه:(رینګ-ګـو-منه)حاصلِ مصدر- وګورئ رینګول-
رینګه:(رینګ-ګه)اسم- (۱)قطار- (۲)په نری اواز ژړا-
رینګه رینګه:(رینګ-ګه-رینګ-ګه)اسم صوت- رینګېدنه- د ماشوم د ژړا اواز-
رینګېدل:(رینګ-ګې-دل)مصدر- رون رون کول- د ماشوم په نری اواز مسلسل ژړېدل-
رینګېدلے:(رینګ-ګې-دلے)اسم مفعول- وګورئ رینګېدل-
رینګېدن:(رینګ-ګې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ رینګېدل-
رینګېدنګ:(رینګ-ګې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رینګېدل-
رینګېدنه:(رینګ-ګې-دنه)حاصلِ مصدر- وګورئ رینګېدل-
رینګېدونکے:(رینګ-ګې-دون-کے)اسم فاعل- جمع رینګېدونکی- مؤنث رینګېدونکې- وګورئ رینګېدل-
رینګېده:(رینګ-ګې-ده)حاصلِ مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ رینګېدل-
رینګے:(رینګ-ګے)اسم- واحد- مذکر- (۱)اواز- (۲)د سندری وزن یا سُر- سلسله- تسلسل-
رینه:(ری-نه)اسم- واحد- مؤنث- د چمیاری د کار یو خاص اوزار چې سوری پرې کولے شی- په ځنو ځایونو کښې پرې شکورونه هم جوړولے شی، او ووی پرې سپېتولے شی-
رینیه رینیه:(رین-یه-رین-یه)اسم صوت- رونګه رونګه- رینګه رینګه-
رینے:(ری-نے)اسم- سوربخن رنګ لرونکے حیوان-

ریو:(ریو)اسم- فریب- چل- دوکه-
ریوک:(ری-وک)اسم- ذهین- چالاک- مؤنث ریوکه- جمع مؤنث ریوکې-
ریوکے:(ری-وه-کے)اسم تصغیر- د ریوک مصغر- وګورئ ریوک-
ریومے:(ریو-مے)اسم- د نامهٔ لاندی وېښته-
رئیس:(رَ-ئیس)اسم صفت- (۱)سردار- مالدار- (۲)صدر- (افغانستان)- (م- عربی)-
ږ:(ږ)حرف- د پښتو د حروف تهجی شپاړسم حرف اواز او تلفظ چې د ابجدو په حساب دوه سوه شمارلے شی-
رېبار:(ری-بار)اسم- واحد- مذکر- قاصد- پیغام رسونکے- جمع رېباران-
رېباری:(ری-با-ری)اسم- د عاشق او معشوق تر مېنځه پیغام رسونه-
رېبخ:(ری-بخ)اسم- واحد- مذکر- رېبخونے- جارو- جارو- جاروب-
رېبخ بوټے:(ری-بخ-بو-ټے)اسم- جارو بوټے- بارې- پنے- د جارو جوړولو د پاره بکاروونکے بوټے- جمع رېبخ بوټی-
رېبخل:(رېب-خل)مصدر- جاروکول- جارو وهل- صفا کول-
رېبخلے:(رېب-خلے)اسم مفعول- جمع رېبخلی- مؤنث رېبخلې- وګورئ رېبخل-
رېبخن:(رېب-خن)حاصلِ مصدر- وګورئ رېبخل-
رېبخنګ:(رېب-خنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رېبخل-
رېبخنه:(رېب-خنه)حاصلِ مصدر- وګورئ رېبخل-
رېبخونکے:(رېب-خون-کے)اسم فاعل- جمع رېبخونکی- مؤنث رېبخونکې- وګورئ رېبخل-
رېبخے:(رېب-خے)اسم صفت- خاکروب- جاروکش- جمع رېبخی-
رېبدل:(رېب-دل)مصدر - د فصل وغېره ریبکول- رېبل-
رېبدلے:(رېب-دلے)اسم مفعول- جمع رېبدلی- مؤنث رېبدلې- وګورئ رېبدل-
رېبدن:(رېب-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ رېبدل-
رېبدنګ:(رېب-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ رېبدل-
رېبدنه:(رېب-دنه)حاصلِ مصدر- وګورئ رېبدل-
رېبدون:(رېب-دون)اسم- د یوې ونې نامه-
رېبدونکے:(رېب-دون-کے)اسم فاعل- جمع رېبدونکی- مؤنث رېبدونکې- وګورئ رېبدل-
رېبږ:(ری-بږ)اسم- نرمه خټه-
رېبل:(ری-بل)مصدر- رېبدل- فصل ریبکول-
رېبلے:(ری-بلے)اسم مفعول- جمع رېبلی- مؤنث رېبلې- وګورئ رېبل-
رېبند:(ری-بند)اسم- (۱)تیټ شوے- کوږ- تیټ- (۲)اسم- تیغ- ربند-
رېبندتوب:(ری-بند-توب)اسم- (۱)تیټ والے- کوږ والے- (۲)وارو والے- هوار والے- سموالے-
رېبندول:(ری-بن-د-ول)مصدر- (۱)راتیټول- کږول- خم ورکول- (۲)هوارول-

رېبندون:[رې-بن-دمون]حاصلِ مصدر- وګورئ رېبندول-

رېبندونکے:[رې-بن-دموون-کے]اسم فاعل- جمع رېبندونکي- مؤنث رېبندونکې- وګورئ رېبندول-

رېبندونګ:[رې-بن-دونګ]حاصلِ مصدر- وګورئ رېبندول-

رېبندونه:[رې-بن-دمونه]حاصلِ مصدر- وګورئ رېبندول-

رېبونکے:[رې-بون-کے]اسم فاعل- جمع رېبونکي- مؤنث رېبونکې- وګورئ رېبل-

رېبنه:[رې-بنه]حاصلِ مصدر- وګورئ رېبل-

رېبړے:[رېب-ړے]اسم- (۱)لېبړي- ختې- چکړې-

رېت:[رېت]اسم- رعايا- مالګزار- باج ګزار- نوکر- دَ حکم لاندې-

رېت پېت:[رېت-پېت]اسم- پائمال- لتاړ- لېت پېت-

رېټ:[رېټ]اسم- نرخ- قيمت- بيعه- بيه- (م- انګريزي)-

رېټه:[رې-ټه]اسم- واحد- مؤنث- روټه- دَ اوبشو روټي- جمع رېټې-

رېټه:[رې-ټه]اسم- واحد- مؤنث- (۱)رېټۍ- دَ ارمنهې لوکے- (۲)يو قسم ونه چې غټې غټې داڼې کوی او داڼې ئې دَ جامو او سر وينځلو دَ پاره دَ صابون په طور استعمالولے شي- جمع رېټې-

رېټۍ:[رې-ټۍ]اسم- واحد- مؤنث- وګورئ رېټه-

رېجه:[رې-جه]اسم- واحد- مؤنث- جندره- دَ زرګرانو يوه آله- جمع رېجې-

رېچ:[رېچ]اسم- باجره- وړوکې کانې-

رېحان:[رې-حان]اسم- کشمالو- کشمالے- يو خوشبوداربوټے- بوبرے- بيبرے- نباتاتي نوم اوسي مم بے مى لى کم (OCIMUM BASILICUM)-

رېدا:[رې-دا]اسم صفت- شائسته هلک-

رېدوان:[رېد-وان]اسم- يو قسم ونه-

رېدۍ:[رې-دۍ]اسم- دَ لاله ګل- غانټول- خاټول- غاټول- غاټوړے- لاله-

رېډيو:[رې-ډی-يو]اسم- يو سائنسي آله چې نشرياتي خپروني پرې کيږي-

رې رې:[رې-رې]اسم صوت- دَ اوښ دَ راپللو خاص ناره-

رېږ:[رېږ]اسم- نلی- دَ درياب وړوکے شاخ-

رېږم:[رې-ږم]اسم- واحد- مذکر- دَ مرجان يو قسم قيمتي کاڼے- جمع رېږمونه-

رېږو:[رې-ږو]اسم- دَ لامن ګاڼے-

رېږه:[رې-ږه]اسم- واحد- مؤنث- دَ غواګانو کاڼے-

رېږۍ:[رې-ږۍ]اسم- واحد/جمع- مؤنث- دَ بکياڼي او شنډی تخم يا زړی-

رېږے:[رې-ږے]اسم- واحد- مذکر- هغه کږ چې په تندی مېن خاپ لری-

رېز:[رېز]اسم- دَ مرغيو لهٔ وښي نه په زمکه راکوزېدنه-

رېز:[رېز]اسم- (۱)ابمال- رېخ- برف کوچ- دَ ولورو رالښوبدنه-

رېزش:[رې-زش]اسم- نزله- دَ يخني وهنه- دَ پوزې بهېدنه- (م- فارسي)-

رېزګاري:[رېز-ګا-ري]اسم- ماتې پيسې- چينج-

رېزګی:[رېز-ګی]اسم- چوره- وړې وړې نري-

رېز مرېز:[رېز-م-رېز]اسم صفت- ذرې ذرې-

رېزه:[رې-زه]اسم- واحد- مؤنث- ذره- پوټکے- پوټے- معمولي- وړوکے- وړکوټے- پېر لږ-

رېزېدل:[رې-زې-دل]مصدر- دَ څوکو نه اوړېدل- لهٔ ځيو اوړېدل-

رېزېدلے:[رې-زې-دلے]اسم مفعول- جمع رېزېدلي- مؤنث رېزېدلې- وګورئ رېزېدل-

رېزېدن:[رې-زې-دن]حاصلِ مصدر- وګورئ رېزېدل-

رېزېدنګ:[رې-زې-دنګ]حاصلِ مصدر- وګورئ رېزېدل-

رېزېدنه:[رې-زې-دنه]حاصلِ مصدر- وګورئ رېزېدل-

رېزېدونکے:[رې-زې-دون-کے]اسم فاعل- جمع رېزېدونکي- مؤنث رېزېدونکې- وګورئ رېزېدل-

رېژن:[رې-ژن]حاصلِ مصدر- (۱)رېژون- رژون- مېده کونه- (۲)تويونه- خورونه-

رېژول:[رې-ژول]مصدر- رژول- دانه دانه کول- دَ وری نه داڼې لرې کول- ګل پاڼې پاڼې کول-

رېژون:[رې-ژون]حاصلِ مصدر- وګورئ رېژول-

رېژون:[رې-ژون]اسم- وګورئ رېژول-

رېژونکے:[رې-ژوون-کے]اسم فاعل- جمع رېژونکي- مؤنث رېژونکې- وګورئ رېژول-

رېژونګ:[رې-ژونګ]حاصلِ مصدر- وګورئ رېژول-

رېژونه:[رې-ژونه]حاصلِ مصدر- وګورئ رېژول-

رېژه:[رې-ژه]اسم- واحد- مؤنث- دَ پسولونو (کالو) دَ جوړولو يو قسم قالب چې ويلې شوی سره پکښې اچولے شي- جمع رېژې-

رېژېدل:[رې-ژې-دل]مصدر لازم- رژېدل- دانه دانه کېدل- دَ وری نه داڼې لرې کېدل- ګل پاڼې پاڼې کېدل-

رېژېدن:[رې-ژې-دن]حاصلِ مصدر- وګورئ رېژېدل-

رېژېدنګ:[رې-ژې-دنګ]حاصلِ مصدر- وګورئ رېژېدل-

رېژېدنه:[رې-ژې-دنه]حاصلِ مصدر- وګورئ رېژېدل-

رېژېدونکے:[رې-ژې-دون-کے]اسم فاعل- جمع رېژېدونکي- مؤنث رېژېدونکې- وګورئ رېژېدل-

رېژېده:[رې-ژې-ده]حاصلِ مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ رېژېدل-

رېږد:[رې-ږد]اسم- واحد- مذکر- دوپ- ګرمي- ذپ-

رېږد:[رېږد]اسم- خوځېدنه- لړزان- رېږدان-

رېږدان:[رېږ-دان]اسم- واحد- مذکر- رپ- رږ- رېږدېدنه- رېږد-

رېږدل:[رېږ-دل]مصدر- رېږدېدل- رپېدل- (افغانستان)-

رېږدله:[رېږ-دله]اسم- واحد- مؤنث- زلزله- جمع رېږدلې-

رېږدول:[رېږ-دول]مصدر- خوځول- په حرکت کښې راوستل-

ےٛ (غی-وزل)، يٛ(هی-ره-ول)، ئ(پيا-لي)، ےٛ(تن-دے) تفصيل دَ پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

رېږدولے:(رېږ-دَو-ئـلے)اسم مفعول- جمع رېږدولی- مؤنث رېږدولې- وګورئ: رېږدول-

رېږدون:(رېږ-دَ-ون)حاصل مصدر- وګورئ رېږدول-

رېږدونکے:(رېږ-دَ-ون-کے)اسم فاعل- جمع رېږدونکی- مؤنث رېږدونکې- وګورئ رېږدول-

رېږدونګ:(رېږ-دَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ رېږدول-

رېږدونه:(رېږ-دَ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ رېږدول-

زږکے:(زږ-کے)اسم- واحد- مذکر- جیږکے- زیږکے- جوزکے- شیژکے- سیږکے- شژکے- جمع زږکی-

زږه:(ز-ږه)اسم صفت- وګورئ زږ-

زږه:(ز-ږه)اسم- واحد- مؤنث- د سپینو زرو یوه سکه-

زشت:(زشت)اسم صفت- زښت- بپسره- کرغیړن- ناکاره- بد- پوچ- بدرنګ- خراب- (م- فارسی)-

زشتی:(زش-تی)اسم- خرابی- بدرنګی- (فارسی)-

زشکله:(زش-کے-له)اسم- ښکله- هرګاه- هر وخت- مُدام- زښکله-

زښا:(زِ-ښا)اسم- کُنځله- کُنځلې- د کُنځلو غوږ- د کُنځلو تېل- زښه-

زښت:(زښت)صفت- (۱)بېر- زیات- (۲)له پامه بد- له نظره بد- زشت-

زښتیل:(زښ-تي-یل)مصدر- (۱)خوړل- کړول- ربړول- (۲)خوابدی کول- خفه کول-

زښتیلے:(زښ-تي-یه-لے)اسم مفعول- جمع زښتیلی- مؤنث زښتیلې- وګورئ زښتیل-

زښتیین:(زښ-تي-ین)حاصل مصدر- وګورئ زښتیل-

زښتیینګ:(زښ-تي-ینګ)حاصل مصدر- وګورئ زښتیل-

زښتیینه:(زښ-تي-یه-نه)حاصل مصدر- وګورئ زښتیل-

زښتیونکے:(زښ-تي-یون-کے)اسم فاعل- جمع- زښتیونکی- مؤنث زښتیونکې- وګورئ زښتیل-

زښکله:(زښ-ک-له)اسم- وګورئ زشکله-

زښه:(ز-ښه)اسم- کُنځله- وګورئ زښا-

زعامت:(زَ-عا-مَت)اسم- (۱)مشرتابه- مشرتوب- (۲)رهبری-

زعفران:(زَع-فَران)اسم- زاهران- کنګو- کنګو- یو قسم زیړ رنګ لرونکے بوټے- نباتاتی نوم زیفرس (ZAFFRAN)- (م- فارسی)-

زعفرانی:(زَع-فَرا-نی)اسم- د زعفران سره متعلق- وګورئ زعفران-

زعیم:(ز-عیم)اسم صفت- (۱)د قوم مشر- رهبر- سرکرده- پېشوا- (۲)کفیل- (۳)ضامن- (۴)رئیس- (افغانستان)-

زغ:(زَغ)اسم- د لرګی هغه آله چې پښې کښې د کار کولو په وخت د برو جوړه غوایانو په اوږو اېښودے شی- ژغ- جغ-

زغ:(زغ)اسم صوت- (۱)ښغ- جز- د غوړیو یا بل یو داسې څیز د سره کولو اواز- (۲)د غټه څیز د داغولو اواز-

زغاره:(زغا-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د غنمو پروړی- (۲)د پڼو پروړی- جمع زغاری-

زغاست:(زغاست)اسم- خفاست- خفاښت- منډه- ځغل-

زغاستل:(زَغاس-تَل)مصدر- خفاښتل- منډه وهل- زغلېدل-

زغاسته:(زَغاس-ته)اسم- خفاښته- خفاسته- زغل- منډه-

زغاښت:(زغاښت)اسم- زغل- منډه- خفاست-

زغاښتل:(زغاښ-تل)مصدر- خفاستل- خفاښتل- زغل- منډه وهل- زغلېدل-

زغال:(زَ-غال)اسم- سکاره- زرغال-

زغانځه:(زَغان-ځه)اسم- واحد- مؤنث- وروه-

زغبنوے:(زَغ-بن-وے)اسم- وګورئ جغبنوے- (افغانستان)-

زغبر:(زَغ-بر)اسم- زغوبر- آفت- بلا- مصیبت- تکلیف-

زغر:(زَغر)اسم- یو قسم دانې چې تېل ترې وېستلے شی-

زغرد:(زَغرد)اسم صفت- (۱)زغرده- زړور- (۲)ښیخ- تېز- تُند- (۳)چالاک-

زغردتوب:(زَغرد-توب)اسم- (۱)زغرتیا- زغرتوب- زغردوالے- زغردوالے- زړورتیا- (۲)تُندی- تېزی- (۳)چالاکی- چُستی- (۴)ساتنه- بچ کونه-

زغردتیا:(زَغرد-تیا)اسم- وګورئ زغردتوب-

زغردوالے:(زَغرد-وا-لے)اسم- وګورئ زغردتوب-

زغردول:(زَغر-د-ول)مصدر- زغرول- زړور کول- (۲)تېزول- تُندول- چالکول- (۳)خوندی کول- ساتل- بچ کول-

زغردون:(زَغر-د-ون)حاصل مصدر- وګورئ زغردول-

زغردونکے:(زَغر-د-ون-کے)اسم فاعل- جمع زغردونکی- مؤنث زغردونکې- وګورئ زغردول-

زغردونګ:(زَغر-د-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ زغردول-

زغردونه:(زَغر-د-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ زغردول-

زغردېدل:(زَغر-دې-دل)مصدر لازم- (۱)زغرېدل- زړور کېدل- (۲)تېزېدل- تندېدل- چابکېدل- (۳)بچ کېدل- خوندی کېدل-

زغردېدن:(زَغر-دې-دن)حاصل مصدر- وګورئ زغردېدل-

زغردېدنګ:(زَغر-دې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ زغردېدل-

زغردېدنه:(زَغر-دې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ زغردېدل-

زغردېدونکے:(زَغر-دې-دون-کے)اسم فاعل- جمع زغردېدونکی- مؤنث زغردېدونکې- وګورئ زغردېدل-

زغرلے:(زَغر-لے)اسم- زغره اغستونکے- زغره لرونکے- اوبچے-

زغروبے:(زَغر-و-بے)اسم- تعویذ- (افغانستان)-

زغرومے:(زَغر-و-مے)اسم صفت- رُعبناک- جابر- د هیبت خاوند- هیبتناک-

زغرور:(زَغ-رور)اسم- وګورئ زغریالے-

زغرورے:(زَغ-رو-رے)اسم- پالپروان- د پالیز ساتونکے- (افغانستان)-

زغره:(زَغ-ره)اسم- زره- بکتری- د جنګ د پاره پکارېدونکے فولادی قمیص- جمع زغرې-

زغره غُټه:(زَغ-ره-غُ-ټه)اسم- سخته غُټه- ټینګه غُټه- سخره غُټه-

www.pukhto.net

جمع زغرۍ غټې-

زغرېال:(زغو-يال)اسم- وګورئ زغرېالے-

زغرېالے:(زغو-يا-لے)اسم- زغره لرونکے- زغرور- زغرېال- زغروال- جمع زغرېالي-

زغرى:(زغه-رى)اسم- څوکيدارى- پېره دارى- څوکۍ کونه- حفاظت کونه-

زغږ:(زغږ)اسم صفت- بچ- محفوظ- ساتلے- خوندى- خلاص- وژګار-

زغږد:(زغږد)اسم صفت- وګورئ زغږد-

زغږدل:(زغږ-دل)مصدر- په حفاظت کښې ساتل- بچ کول- زغږل-

زغږدن:(زغږ-دن)حاصل مصدر- وګورئ زغږدل-

زغږدنګ:(زغږ-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ زغږدل-

زغږدنه:(زغږ-دنه)حاصل مصدر- وګورئ زغږدل-

زغږدونکے:(زغږ-دون-کے)اسم فاعل- جمع زغږدونکي- مؤنث زغږدونکې- وګورئ زغږدل-

زغږل:(زغه-ږل)مصدر- بچ کول- ژغورل- ساتل- په پېره کول- خوندى کول-

زغږن:(زغه-ږن)حاصل مصدر- وګورئ زغږل-

زغږخه:(زغ-ږن-خه)اسم-(زوغږنخه- پوچه پسته- مې مغره پسته- د پستې مغز نه لرونکے تخم-

زغږنګ:(زغه-ږنګ)حاصل مصدر- وګورئ زغږل-

زغږنه:(زغه-ږنه)حاصل مصدر- وګورئ زغږل-

زغږول:(زغه-ږول)مصدر- په زمکه رغږول- غنو شے په ديکه بوتلل- لوټ په لوټ اړول-

زغږولے:(زغه-ږو-لے)اسم مفعول- جمع زغږولي- مؤنث زغږولې- وګورئ زغږول-

زغږون:(زغه-ږون)حاصل مصدر- وګورئ زغږول-

زغږونکے:(زغه-ږ-وون-کے)اسم فاعل- جمع زغږونکي- مؤنث زغږونکې- وګورئ زغږول-

زغږونګ:(زغه-ږ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ زغږول-

زغږونه:(زغه-ږ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ زغږول-

زغږېدل:(زغه-ږې-دل)مصدر- رغږېدل- غنو شے په ديکه بوتللے کېدل- لوټ په لوټ اړولے کېدل-

زغږېدلے:(زغه-ږې-دلے)اسم مفعول- جمع زغږېدلي- مؤنث زغږېدلې- وګورئ زغږېدل-

زغږېدن:(زغه-ږې-دن)حاصل مصدر- وګورئ زغږېدل-

زغږېدنګ:(زغه-ږې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ زغږېدل-

زغږېدنه:(زغه-ږې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ زغږېدل-

زغږېدونکے:(زغه-ږې-دون-کے)اسم فاعل- جمع زغږېدونکي- مؤنث زغږېدونکې- وګورئ زغږېدل-

زغږېدۀ:(زغه-ږې-دۀ)حاصل مصدر او د ماضى استمرارى د واحد غائب صيغه- وګورئ زغږېدل-

زغږى:(زغه-ږى)اسم- حفاظت- پام لرنه-

زغستل:(زغس-تل)مصدر- خفستل- منډه کول- تړپل- څفاستل-

زغستلے:(زغس-تلے)اسم مفعول- جمع زغستلي- مؤنث زغستلې- وګورئ زغستل-

زغستن:(زغس-تن)حاصل مصدر- وګورئ زغستل-

زغستنګ:(زغس-تنګ)حاصل مصدر- وګورئ زغستل-

زغستنه:(زغس-تنه)حاصل مصدر- وګورئ زغستل-

زغستونکے:(زغس-تون-کے)اسم فاعل- جمع زغستونکي- مؤنث زغستونکې- وګورئ زغستل-

زغښتل:(زغښ-تل)مصدر- زغږدل- نغښتل- کپړه يا کاغذ تـه کول- (۲)په حفاظت ساتل- په خيال ساتل-

زغښتلے:(زغښ-تلے)اسم مفعول- جمع زغښتلي- مؤنث زغښتلې- وګورئ زغښتل-

زغښتن:(زغښ-تن)حاصل مصدر- وګورئ زغښتل-

زغښتنګ:(زغښ-تنګ)حاصل مصدر- وګورئ زغښتل-

زغښتنه:(زغښ-تنه)حاصل مصدر- وګورئ زغښتل-

زغښتونکے:(زغښ-تون-کے)اسم فاعل- جمع زغښتونکي- مؤنث زغښتونکې- وګورئ زغښتل-

زغل:(زغل)مصدر- خفل- منډه- تښېته- تېزتګ-

زغلا:(زغه-لا)اسم- خفلا- زغلېدنه- منډه وهنه- تښتېدنه-

زغلاند:(زغه-لاند)اسم صفت- ورے- لېوال-

زغلول:(زغه-لول)مصدر- خغلول- منډه ورکول- په منډه کول- تښتول-

زغلولے:(زغه-لو-لے)اسم مفعول- جمع زغلولي- مؤنث زغلولې- وګورئ زغلول-

زغلون:(زغه-لون)حاصل مصدر- وګورئ زغلول-

زغلونکے:(زغه-لوون-کے)اسم فاعل- جمع زغلونکي- مؤنث زغلونکې- وګورئ زغلول-

زغلونګ:(زغه-لونګ)حاصل مصدر- وګورئ زغلول-

زغلونه:(زغه-لونه)حاصل مصدر- وګورئ زغلول-

زغلېدل:(زغه-لې-دل)مصدر- خغلېدل- منډه وهل- تښتېدل-

زغلېدلے:(زغه-لې-دلے)اسم مفعول- جمع زغلېدلي- مؤنث زغلېدلې- وګورئ زغلېدل-

زغلېدن:(زغه-لې-دن)حاصل مصدر- وګورئ زغلېدل-

زغلېدنګ:(زغه-لې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ زغلېدل-

زغلېدنه:(زغه-لې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ زغلېدل-

زغلېدونکے:(زغه-لې-دون-کے)اسم فاعل- جمع زغلېدونکي- مؤنث زغلېدونکې- وګورئ زغلېدل-

www.pukhto.net

زغلېده:(زغه-لي-ده)حاصلِ مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ زغلېدل-

زغم:(زَغم)اسم- (۱)صبر- تحمل- حوصله- (۲)جذبونه- هضمونه- (۳)ګالنه- زغما- برداشت-

زغما:(زغه-ما)اسم- وګورئ زغم-

زغمل:(زَغه-مَل)مصدر- (۱)برداشت کول- ګالل- (۲)جذبول- جذب کول- هضمول-

زغملے:(زَغه-مَه-لے)اسم مفعول- جمع زغملي- مؤنث زغملې- وګورئ زغمل-

زغمن:(زَغه-مَن)حاصلِ مصدر- وګورئ زغمل-

زغمناک:(زَغم-ناک)اسم صفت- (۱)صبرناک- حوصله لرونکے- (۲)جذبناک-

زغمنګ:(زَغه-مَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ زغمل-

زغمنه:(زَغه-مَه-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ زغمل-

زغمونکے:(زَغه-مُون-کے)اسم فاعل- جمع زغمونکي- مؤنث زغمونکې- وګورئ زغمل-

زغمونے:(زَغه-مُو-نے)اسم مفعول- جمع زغموني- مؤنث زغمونې- وګورئ زغمل-

زغمه:(زَغه-مه)اسم- برداشت- تحمل- صبر- زغما-

زغمېدل:(زَغه-مي-دل)مصدر- (۱)برداشت کېدل- ګاللے کېدل- (۲)جذبېدل- (۳)بارېدل- (۴)غمېدل- وردېدل-

زغمېدلے:(زَغه-مي-ده-لے)اسم مفعول- جمع زغمېدلي- مؤنث زغمېدلې- وګورئ زغمېدل-

زغمېدن:(زَغه-مي-دن)حاصل مصدر- وګورئ زغمېدل-

زغمېدنګ:(زَغه-مي-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ زغمېدل-

زغمېدنه:(زَغه-مي-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ زغمېدل-

زغمېدونکے:(زَغه-مي-دُون-کے)اسم فاعل- جمع زغمېدونکي- مؤنث زغمېدونکې- وګورئ زغمېدل-

زغمېده:(زَغه-مي-ده)حاصلِ مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ زغمېدل-

زغن:(زَ-غَن)اسم- ټپوس- مورک باز- (م- فارسي)-

زغنځي:(زَغَن-ځي)اسم- د ښاروبو دَ بيماري په وخت کښې دَ دوائي په توګه بکارېدونکي يو قسم واښه- (افغانستان)-

زغوبر:(زَغو-بَر)اسم- افت- بلا- ضرر- تکه- زغبر- تکليف-

زغورل:(زَغو-رَل)مصدر- ژغورل- ساتل- بچ کول- خلاصول- دَ ژغورل بل قرات-

زغورلے:(زَغو-رَه-لے)اسم مفعول- جمع زغورلي- مؤنث زغورلې- وګورئ زغورل-

زغورن:(زَغو-رَن)حاصلِ مصدر- وګورئ زغورل-

زغورنګ:(زَغو-رَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ زغورل-

زغورنه:(زَغو-رَنه)حاصل مصدر- وګورئ زغورل-

زغوروونکے:(زَغو-رَوُن-کے)اسم فاعل- جمع زغوروونکي- مؤنث زغوروونکې- وګورئ زغورل-

زغومي:(زَغو-مي)اسم- مؤنث- ورغنه- وژغنه- دَ برو ورې-

زغومے:(زَغو-مے)اسم- واحد- مذکر- غرومبے- بغرى- تندوره- زحم- ګرداب- ګرداو- ګرځاو- چرخاو- کمنډ- وملندے- خارخوږي- ګرځنۍ- جمع زغومي-

زغونډے:(زَغون-ډے)اسم- زغبنډے- جغلنډه- جغنډے- ځغبنډے- جمع زغونډي- (افغانستان)-

زغونډے:(زَغون-ډے)اسم- وګورئ زغونډے-

زغه:(زغه)اسم- واحد- مونث- غزه- د غزه هغه ونه چې د لښتو او څانګو نه ى کچارې، ټوکرى، سودى او شکوروته جوړولے شي-

زغارے:(زَغه-ما-رے)اسم صوت- ژغږ- د سخ سخ اواز-

زقوم:(زَ-قوم)اسم- زَقم- تېره تېره ازغي لرونکے يو قسم تريخ بوټے-

زک:(زَک)اسم- (۱)دَ غوړيو ګوړے- دَ غوړيو مشک- (۲)شماز- شناخ-

زکات:(زَ-کات)اسم- زکواة- لهٔ پنځو بنا يوه بنا چې دَ صاحبِ نصاب دَ پاره عين فرض دے- جمع زکاتونه- (م- عربي)-

زکام:(زَ-کام)اسم- ريزش- يخنۍ- يوه بيمارى چې پکښې لهٔ پوزې اُبهٔ بهيږى- (م- هندى)-

زکانه:(زَ-کانه)اسم- واحد- مؤنث- شين ټکے- دَ لوئ تبې لهٔ وجې پهٔ وجود راختونکے شين داغ-

زکبورے:(زَ-کبو-رے)اسم- واحد- مذکر- زرکونے- زرکبوړے- زرکوړے- دَ زرکې بچے- جمع زکبورى-

زکارے:(زَکا-رے)اسم- واحد جمع- مذکر- (۱)زک- پوک- بګورے- (۲)شلوم- د خوټکېدلې کبين يا سوځه غوړيو د پاسه زک يا بګورے-

زکال:(زَ-کال)اسم- واحد- مذکر- پهٔ شملو کښې مېده شوې روټۍ- جمع زکالونه-

زکروا:(زَکر-وا)اسم- واحد- مذکر- رکېروے- زوېرکے- نالښت- فرياد- زبېرکے- زګروے-

زګروے:(زَګر-وے)اسم- واحد- مذکر- جمع زګروي- وګورئ زګروا-

زکور:(زَ-کور)اسم- واحد- مذکر- ګوزار- غزار-

زګول:(زَه-ګ-ول)مصدر- (۱)ځکول- پهٔ ځک راوستل- (۲)شارېل- مبل- (۳)د مقرره حد نه دَ روټۍ يا د خميرداں د اوړو زياتول-

زګولے:(زَه-ګ-وَه-لے)اسم مفعول- جمع زګولي- مؤنث زګولې- وګورئ زګول-

زګون:(زَه-ګ-ون)حاصل مصدر- وګورئ زګول-

زګونکے:(زَه-ګ-وون-کے)اسم فاعل- جمع زګونکي- مؤنث زګونکې- وګورئ زګول-

زګونګ:(زَه-ګ-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ زګول-

"ى" (ځى-ږل)، "ې" (مې-ره-وَل)، "ى" (پيا-لى)، "ے" (تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

زګونه:(زه-ګو-ونه)حاصل مصدر- وګورئ زګول-
زګېروے:(زګېر-وے)اسم- زګروا- فریاد- زوېرګے- زېږګے- نالښت- جمع زګېروی-
زګېدل:(زه-ګې-دل)مصدر- (۱)په خګ راتلل- خګ کول- (۲)شارمل کېدل- مېلے کېدل- (۳)د شوملو په لوښی کښې د ملتې شوی روټی تر خنډو خنډو راتلل-
زګېدلے:(زه-ګې-دلے)اسم مفعول- جمع زګېدلی- مؤنث زګېدلې- وګورئ زګېدل-
زګېدن:(زه-ګې-دن)حاصل مصدر- وګورئ زګېدل-
زګېدنګ:(زه-ګې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ زګېدل-
زګېدنه:(زه-ګې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ زګېدل-
زګېدونکے:(زه-ګې-دون-کے)اسم فاعل- جمع زګېدونکی- مؤنث زګېدونکې- وګورئ زګېدل-
زګېده:(زه-ګې-ده)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ زګېدل-
زګېږے:(زګې-ږے)اسم- زېږګے- د فریاد نری چغه یا غلے اواز- زګېروے-
زګېږل:(زګې-ږل)مصدر- ګېندی اچول- غټ غټ ټکونه ایستل- کچه کـنـه تېرول-
زګېږلے:(زګې-ږلے)اسم مفعول- جمع زګېږلی- مؤنث زګېږلې- وګورئ زګېږل-
زګېږن:(زګې-ږن)حاصل مصدر- وګورئ زګېږل-
زګېږنګ:(زګې-ږنګ)حاصل مصدر- وګورئ زګېږل-
زګېږنه:(زګې-ږنه)حاصل مصدر- وګورئ زګېږل-
زګېږونکے:(زګې-ږون-کے)اسم فاعل- جمع زګېږونکی- مؤنث زګېږونکې- وګورئ زګېږل-
زل:(زل)اسم- وړه پیسه- (افغانستان)-
زل:(زل)اسم- خل- تل- د بلار وړونکی حیوان د شا کپړه-
زلال:(ز-لال)اسم صفت- (۱)پاکې او روڼې اوبه- (م- عربی)- (۲)زنګال- د ولوری چینجے چې بدن ئې له واوری پک وی- (م- فارسی)-
زلال:(ز-لال)اسم صفت- (۱)لیونے- مجنون- دیوانه- (۲)ظالم-
زلالیه:(ز-لا-لی-یه)اسم- واحد- مؤنث- د قرینې او ستورګې د عدسې تر مینځه موجودې سپینه مائع- جمع زلالیې- (افغانستان)-
زلبی:(زل-بی)اسم- زلفۍ- زولفی- د اوسپنې هغه کړی چې په دروازه یا پل یو داسې ځیز کښې د زنځیر اچولو د پاره ټک وهلے شی-
زلخوږتوب:(زل-خوږ-توب)اسم- زلخوږتیا- زیاته لوږه- ډېره لوږه- (افغانستان)-
زلخوږتیا:(زل-خوږ-تیا)اسم- وګورئ زلخوږتوب- (افغانستان)-
زلخوږی:(زل-خو-ږی)اسم- ډېره زیاته لوږه- وږے کېدنه- (افغانستان)-

زلخوږے:(زل-خو-ږے)اسم صفت- ډېر زیات وږے- ډېر وږے- (افغانستان)-
زلزل:(زل-زل)اسم صفت- خوځېدونے- (م- عربی)-
زلزله:(زل-زله)اسم- واحد- مؤنث- د زمکې ناګهانه خوځېدنه- ویږوله- (م- عربی)-
زلفې:(زل-فې)اسم- جمع- مؤنث- زولپې- زولفې- کوڅې- کمڅی- ځڼې-
زلفی:(زل-فی)اسم- وګورئ زلبی-
زلق:(زلق)اسم صفت- خلق- ځړک- خلا- پړک- بربښ-
زلقېدل:(زل-قې-دل)مصدر- خلقېدل- پړقېدل- چمکېدل- بربښېدل- خلق وهل- زلکېدل-
زلکېدل:(زل-کې-دل)مصدر- خلقېدل- ځلېدل- پړقېدل-
زلل:(ز-لل)اسم- ضرر- اذیت- تاوان- زیان- نقصان-
زلما:(زل-ما)اسم- زلمیتوب- ځوانی- هلکوالی-
زلمکے:(زل-مه-کے)اسم صفت- ځلمکے- ځوانکے- د زلمی تصغیر-
زلموټے:(زل-مو-ټے)اسم صفت- واحد- مذکر- ځلموټے- نوے زلمے- نوے ځوان- ځوانکے- ژئے-
زلمی توب:(زل-می-توب)اسم- زلما- ځوانی- د ځوانی حالت-
زلمینه:(زل-می-نه)اسم- زلما- زلمیتوب-
زلمے:(زل-مے)اسم صفت- ځلمے- ځوان- رسېدلے- بلوغ ته رسېدلے-
زلند:(ز-لند)اسم صفت- واحد- مذکر- زبردست- زوروَر- جابر- ظالم-
زلندتوب:(ز-لند-توب)اسم- (۱)تېرے- زیاتے- (۲)تاړاک- زبردستی- جبر-
زلندو:(ز-لن-دو)اسم صفت- زلنده- جابر- ظالم-
زلنده:(ز-لن-ده)اسم صفت- وګورئ زلندو-
زلوچه:(ز-لو-چه)اسم- غالیچه- غالینچه- زلیچه- ټالینچه- وړه ټالینه- (افغانستان)-
زلوکه:(ز-لو-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کټه وټه- (۲)جوټه-
زله:(ز-له)اسم صفت- ستړے ستومانه- (افغانستان)-
زلهال:(زل-هال)اسم صفت- واحد- مذکر- شنډخو-
زلین:(ز-لین)اسم- ټالینه- غالی-
زلیچه:(ز-لی-چه)اسم- وګورئ زلوچه-
زلینه:(ز-لی-نه)اسم صفت- واحد- مؤنث- کاسیره- بداخلاقه ښځه-
زم:(زم)اسم- (۱)وار- ګوزار- (۲)زخم- ټپ- پرهر- پرار- پیاوړ- زخمی او ټکدلے ځاې-
زما:(ز-ما)اسم ضمیر- د واحد متکلم اضافی ضمیر-
زماه:(زماه)اسم- واحد- مذکر- تب- لېټی- پېه-
زمازمی:(ز-ما-ز-می)اسم- خپلو کښې مخالفت- خان خان ته راکښلے کېدنه- د یو ځیز د ملکیت د پاره خان خان ته دعویٰ کونه-
زماغ:(ز-ماغ)اسم- واحد- مذکر- نوشادر-
زمام:(ز-مام)اسم- (۱)جلب- واګې- جلو- عنان- مهار- نسته- (۲)سرشته-

زبر"(ح-بـه-ره) ، "زورکے"(شل) ، "پېش"(قو-کا-ره) ، "زېر"(کـ-تاب) ، "جزم"(شکون) ، "ه"(ز-ړه) ، "ة"(پو-هې-دة)

www.pukhto.net

سرښته-

زمامدار:(ز-مام-دار)اسم صفت- واکمن- واکدار- اختیاردار- اداره کونکے- مشر- رئیس- سرکرده- سرغندوی-

زمامداری:(ز-مام-دا-ری)اسم- (۱)واکمنی- واکداری- اداره- اختیار- حکومت- واک- (۲)ریاست- مشرتوب- مشری- (۳)سیاستمداری-

زمان:(ز-مان)اسم- وخت- محال- شیبه- روزګار- پیر-

زمانه:(ز-ما-نه)اسم- (۱)زمان- پیری- عصر- (۲)وخت- دور- جمع زمانې-

زمانه ساز:(ز-ما-نه-ساز)اسم صفت- واحد- مذکر- خوشامندګر- وختي- ابن الوقت- د ښې ورځې او وخت ملګرے- جمع زمانه سازان-

زمانه سازی:(ز-ما-نه-سا-زی)اسم- د زمانه ساز جوړېدو حالت- چلوته-

زماني:(ز-ما-ني)اسم صفت- د زمانې سره متعلق-

زمبر:(زم-بر)اسم- (۱)غرغول- ګور او کږ خنګل- چنګې- درینګ- پوله- خنګه- پینګړے- (۲)کبر- منډاؤ- غاښور- رانکول- ګاؤزنبیل- (۳)وچت غږ- تېز اواز- (افغانستان)-

زمبک:(زم-بک)اسم- زمبق- نرمې او ښکلې پاڼې لرونکے یو قسم ګل- سوسن- (افغانستان)-

زمبل:(زم-بل)مصدر- وګورئ خمبل-

زمبور:(زم-بور)اسم- (۱)امبور- (۲)ږیره مچې- غمبسه- بمبره- پنهاره-

زمبورکه:(زم-بو-ر-که)اسم- واحد- مؤنث- وروکې توپه- جمع زمبورکې-

زمبولے:(زم-بو-لے)اسم- (۱)ورکے غندے- ورکے جوال- (۲)وړه خانګه چې پاڼې لري- (افغانستان)-

زمبه:(زم-به)اسم- کږ- ګور- بیر- له ریښتو پک-

زمبیل:(زم-بیل)اسم- زامبیل- زنبر- جغے- د بوجې او لرګی نه جوړه هغه اله چې د بوږ کسو په ذریعه پکښې خاوره چلولے شي-

زمبېدل:(زم-بې-دل)مصدر- (۱)خمبېدل- باتۀ ریږدل- (۲)په تراره تراره په لاره تلل- (۳)په نازږۀ کار کول-

زمته:(زم-ته)اسم صفت- خر- خینګ- شرمنده-

زمخ:(زمخ)اسم- وګورئ زمڅ- (افغانستان)-

زمڅ:(زمڅ)اسم- پېکړی- خوری- زمخ- (افغانستان)-

زمربچے:(زمر-بچے)اسم- زمرکټے- د زمری بچے- مؤنث زمربچی-

زمربون:(زمر-بون)اسم- واحد- مذکر- هغه سړے چې زمری ساتي- جمع زمربانۀ- (افغانستان)-

زمرد:(زمرد/زمرد)اسم- یو قسم قیمتي شین کاڼے- زرغون غمے-

زمرک:(زمرک)اسم تصغیر- د زمری اسم تصغیر- ورکے زمرے-

زمریالے:(زمر-یا-لے)اسم صفت- مېړنے- زړور- مړنے- تکړه- د زمری په شان زړور- جمع زمریالي-

زمرین:(زم-رین)اسم- (۱)زامرین- ډېره یخني- سخت ساړه- شین زنګ- (۲)یرخه- شولنګ- شونم- شکنم- شبنم- (۳)د دوزخ ډېره یخه برخه-

زمرے:(زمرے)اسم- واحد- مذکر- مزرے- امزرے- منزرے- یو طاقتور او ځیرونکے ځناور- جمع زمری-

زمرے:(زمرے)اسم صفت- زړور- دلاور- بهادر- مړنے- مېړنے-

زمرے خلے:(زمرے-خ-لے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)د زمری په شان خلۀ لرونکے- (۲- اسم)د چترنو یا حوضونو د پرنالو او ناوۀ خلې چې د زمری د خلې په شان وي-

زمریو:(زمر-یو)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)زمرے- خان مړے- څه مړیو- خانخومړے- (۲)د سهکاوی او د ښېرو په طور استعمالېدونکے تورے-

زمزم:(زم-زم)اسم- د بیت الله شریف سره خوا کښې چینه او د هغې اُبۀ چې د مرضونو شفا ګڼلے شي-

زم زمبولے:(زم-زم-بو-لے)اسم- (۱)ډیر په ګرانه رانګ- (۲- اسم صفت)ګډ- کرم- شل-

زم زمولے:(زم-زمو-لے)اسم- مړاوے- د زخم او تکلیف د لاسه غلے سرے- زمول- (افغانستان)-

زمزمولے:(زم-زمو-لے)اسم صفت- ګډ- کوم- شل- زمزمبولے-

زمزمه:(زم-ز-مه)اسم- (۱)اتفاق- ملګرتیا- لښکر- جماعت- (۲)د اوښانو رمه- (۳)ترانه- نغمه- جمع زمزمې-

زمستان:(زمس-تان)اسم- د ژمي موسم- ژمے-

زمکه:(زمۀ-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)هغه خاورینه کُره چې مونږ پرې وسېږو- (۲)دُنیا- جهان- (۳)د غزل ردیف- قافیه او وزن بحر-

زمکې غوسه:(زمۀ-کې-غو-سه)اسم- خرېږے- پرېږه- حرمبېږی- تېنزرے- کوکے- مرغېږے- پوشکی- تورسرتے- وېکری-

زمل:(ز-مل)مصدر- زمبل- سترګې رمل- خېږمې رپول- خنبل-

زمن:(ز-من)اسم- زمنه- ورد- وظیفه- لسوانے- دعا-

زمنه:(زم-نه)اسم- (۱)زیمناکه- زومنه- زیمناک- زمکه- (۲)لاړې- نګولے- پنګرے- (۳)وګورئ زمن-

زمنے:(زم-نے)صفت- وظیفه شمار- په ډېر کوشش سره خپله وظیفه ترسره کونکے-

زموخ:(زموخ)اسم صفت- (۱)زموخت- قابض- ټینګ- کلک- سنغ- (د خوند په لحاظ)- (۲)تند- (۳)بخیل-

زموخت:(زموخت)اسم صفت- وګورئ زموخ-

زموختیا:(زموخ-تیا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)زیروالے- خیږوالے- لواړتیا- (۲)تندی- سندی- (۳)بخیلي-

زموخوالے:(زموخ-وا-لے)اسم- وګورئ زموختیا-

زموږ:(ز-موږ/زموږ)اسم ضمیر- د "زمونږ" بل قرائت-

زموږه:(ز-مو-ږه)اسم ضمیر- د "زمونږه" بل قرائت-

زمول:(زمول)اسم صفت- (۱)زمولے- مړاوے- شپته- ناتوانه- ضعیف- جینګړ- کمزورے- جینګ- (۲)د مور په نس کښې رنګ شوے او مړ شوے

www.pukhto.net

بچے۔

زمولتوب:(زَمول-توب)اسم- زمولتیا- مراوے توب- جینګتوب- زمول والے- جیګړتوب-

زمولتیا:(زَمول-تیا)اسم- وګورئ زمولتوب-

زمولوالے:(زَمول-وا-لے)اسم- وګورئ زمولتوب-

زمولول:(زَمو-لہ-ول)مصدر- (۱)مراوے کول- کمزورے کول- (۲)خپل- زبل-

زمولون:(زمو-لہ-ون)حاصل مصدر- وګورئ زمولول-

زمولونکے:(زَمو-لہ-ون-کے)اسم فاعل- جمع زمولونکی- مؤنث زمولونکې- وګورئ زمولول-

زمولونګ:(زَمو-لہ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ زمولول-

زمولونه:(زَمو-لہ-وه-نه)حاصل مصدر- وګورئ زمولول-

زمولېدل:(زَمو-لې-دَل)مصدر- (۱)مراوے کېدل- شېته کېدل- جینګېدل- (۲)خپلے کېدل- خپېدل- زبېدل-

زمولېدن:(زمو-لې-دن)حاصل مصدر- وګورئ زمولېدل-

زمولېدنګ:(زَمو-لې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ زمولېدل-

زمولېدنه:(زَمو-لې-دَه-نه)حاصل مصدر- وګورئ زمولېدل-

زمولېدونکے:(زَمو-لې-دُون-کے)اسم فاعل- جمع زمولېدونکی- مؤنث زمولېدونکې- وګورئ زمولېدل-

زمولېده:(زَمو-لې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ زمولېدل-

زمولے:(زَمو-لے)اسم صفت- (۱)بدقسمته- بدمرغه- (۲)ضعیف- خوار- ناتوانه- کمزورے-

زمونځے:(زَمون-ځے)اسم- دَ جولاګانو دَ کړی رمنځ-

زمونږ:(ز-مونږ) زمونږ)اسم ضمیر- زمونږ- د جمع متکلم اضافي ضمیر-

زمونږه:(ز-مونږ-ږه)اسم ضمیر- زمونږه- د جمع متکلم اضافي ضمیر-

زمه:(زَمه)اسم- واحد- مؤنث- پټکړی- خوری- پټکئ-

زمهریر:(زَم-هه-ریر)اسم- سخته یخنی- سخت ژمے- دَ دوزخ یخه برخه-

زمیدار:(ز-می-دار)اسم- (۱)زمیندار- کروندہ ګر- بزګر- زمکه کرونکے- (۲)دَ زیاتي زمکې مالک-

زمیداره:(ز-می-دا-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دهقانی- کرونده- د کر کروندی دنده- کاشتکاري- (۲)زمه واری-

زمیداري:(زَ-می-دا-ري)اسم- زمینداري- بزګري- دهقاني- دَ زمکې دَ کر کیلې کار او پېشه-

زمیندار:(زَ-مین-دار)اسم- وګورئ زمیدار-

زمینداره:(زَ-مین-دا-ره)اسم- مؤنث- زمیداره- کرونده- کر کرونده- دهقانی-

زمینداري:(زَ-مین-دا-ري)اسم- وګورئ زمیداري-

زمینه:(زَ-می-نه)اسم- (۱)زمکه- (۲)حالات- واقعات- ماحول-

زمیني:(زَ-می-ني)اسم صفت- دَ زمکې سره متعلق- دَ زمکې سره مربوط-

زمبر:(زمبر)اسم- زمبرنه- ساتنه- حفاظت کونه- (افغانستان)-

زمبرنه:(زمې-ر-نه)اسم- وګورئ زمبر-

زمبرے:(زَ-مې-رے)اسم صفت- محافظ- ساتونکے-

زمی:(زَ-می)اسم- پشمکه- یو قسم وړوکے بوټے چې دَ مېښو سره څګ پیدا کوي- صابون بوټے-

زمے:(زَمے)اسم- ژمے- د یخني موسم-

زنا:(زِ-نا)اسم- بدعملي- بدکاري- ناجائزه تعلقات- د غیر منکوحه ښځې سره نژدېکت-

زنابالجبر:(زِ-نا-بِل-جه-بر)اسم- دَ پردی ښځې سره په زور زنا کونه-

زناخ:(زَ-ناخ)اسم- زنه- زنخدان- غبغب- ججوره-

زنار:(زُ-نار)اسم- واحد- مذکر- کلهرمزے- هغه مزے چې عیسایانو یا یهودیانو ملا پورې تړلے وی یا هغه مزے چې یو قسم هندوانو په داسې شان په غاړه کښې اچولے وی چې یو سر ئې په مټ او بل دَ ترخ دَ لاندې وی-

زناکار:(زِ-نا-کار)اسم صفت- زاني- زنا کونکے- جمع زناکاران-

زناکاره:(زِ-نا-کا-ره)اسم صفت- واحد- مؤنث- د زناکار مؤنث- بدلمنه- بدکاره- کاسبره- کنجره- کشتی- مرچاخانه- ناجائزه تعلقات ساتونکې ښځه- جمع زناکارې-

زناکاري:(زِ-نا-کا-ري)اسم- د زناکار عمل-

زنانه:(زَ-نا-نه)اسم- مؤنث- (۱)ښځه- نورسری- ماینه- اورته- ارتینه- (۲)- صفت)ښځینه- د ښځو-

زن بچه:(زَن-به-چه)اسم- سې کچ- بال بچ-

زنبر:(زَم-بر)اسم- زمبیل- جغے-

زنبق:(زَم-بق)اسم- (۱)یو خوشبویه بوټے- (۲)د چنبې ګل- زُمبک-

زنبک:(زَم-بک)اسم- زنبق-

زنبورخانه:(زَم-بُور-خا-نه)اسم- واحد- مؤنث- ګګ- دَ سرو مچیو کور- جمع زنبورخانې-

زنجبیل:(زَن-جه-بیل)اسم- زنجهیل- سونډ- شونډ- وړدې او نرۍ ږیانې لرونکے یو قسم دَ زیړ رنګ واښه- زنجفیل- نباتاتی نوم (ZINGIBER)-

زنځ:(زنځ)اسم- وګورئ خوری-

زنخارے:(زَن-خا-رے)اسم- ډکک- څاڅکے- قطره-

زنخول:(زَن-ځ-وَل)مصدر متعدی- څڅول- دَ کوزې یا بل داسې لوښی نه قطره قطره څڅول-

زنخولے:(زَن-ځ-وَلے)اسم مفعول- جمع زنخولی- مؤنث زنخولې- وګورئ زنخول-

زنخون:(زَن-ځ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ زنخول-

زنخونکے:(زَن-ځ-وون-کے)اسم فاعل- جمع زنخونکی- مؤنث زنخونکې- وګورئ زنخول-

زبر (ـَ ـسفـ ره)، زورکے (شل)، پېښ (نو ـکا ـره)، زېر (ک ـتاب)، جزم (شکون)، ـۀ (ر ـ ره)، ـۀ (بو ـ سې ـ دۀ)

زنخونګ:(زن-خ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ زنخول-

زنخونه:(زن-خ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ زنخول-

زنخه:(زن-خه)اسم- شوبله- سرسوبنده- دَ زمکې يوه خزنده-

زنخی:(زن-خی)اسم- زرنه- زرنه- لوشه- زرنے- زرنخی- ټيپګه، سخا او بدبويه شوې خټه- (افغانستان)-

زنځير:(زن-ځير)اسم- (۱)سلسله- (۲)دَ اُسپنې دَ کړو لړی- جمع زنځيرونه-

زنځيرول:(زن-ځی-ره-ول)مصدر- زنځير اچول- ور ته زنځير اچول- بندول- راګيرول-

زنځيرون:(زن-ځی-ره-ون)حاصل مصدر- وګورئ زنځيرول-

زنځيرونکے:(زن-ځی-ره-ون-کے)اسم فاعل- جمع زنځيرونکی- مؤنث زنځيرونکې- وګورئ زنځيرول-

زنځيرونګ:(زن-ځی-ره-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ زنځيرول-

زنځيرونه:(زن-ځی-ره-ونه)حاصل مصدر- وګورئ زنځيرول-

زنځيره:(زن-ځی-ره)اسم- واحد- مؤنث- زنځير- زنځيری- کړی- الوزن او کړی کړی-

زنځيرېدل:(زن-ځی-رې-دل)مصدر- زنځير کېدل- پورې کېدل- بندېدل- راګيرېدل-

زنځيرېدن:(زن-ځی-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ زنځيرېدل-

زنځيرېدنګ:(زن-ځی-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ زنځيرېدل-

زنځيرېدنه:(زن-ځی-رې-ده-نه)حاصل مصدر- وګورئ زنځيرېدل-

زنځيرېدونکے:(زن-ځی-رې-دون-کے)اسم فاعل- جمع زنځيرېدونکی- مؤنث زنځيرېدونکې- وګورئ زنځيرېدل-

زنځيرېدهٔ:(زن-ځی-رې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ زنځيرېدل-

زنځيری:(زن-ځی-ری)اسم- يو تاريخی ليک چې دَ خوشحال بابا سره منسوب دے- د چاربېتې يو قسم-

زنخېدل:(زن-خې-دل)مصدر- څڅېدل- لهٔ کوزی يا بل يو داسې قسم لوښی نه قطره قطره څڅېدل-

زنخېدلے:(زن-خې-دهٔ-لے)اسم مفعول- جمع زنخېدلی- مؤنث زنخېدلې- وګورئ زنخېدل-

زنخېدن:(زن-خې-دن)حاصل مصدر- وګورئ زنخېدل-

زنخېدنګ:(زن-خې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ زنخېدل-

زنخېدنه:(زن-خې-ده-نه)حاصل مصدر- وګورئ زنخېدل-

زنخېدونکے:(زن-خې-دون-کے)اسم فاعل- جمع زنخېدونکی- مؤنث زنخېدونکې- وګورئ زنخېدل-

زنخېدهٔ:(زن-خې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ زنخېدل-

زنخی:(زن-خی)اسم- نری نری او وړې وړی کړی-

زنخخے:(زن-خ-خے)اسم- واحد- مذکر- زنخدان- دَ زنې مېنځنی او ژوره برخه-

زنخدان:(زنخ-دان)اسم- د زنې مېنځنی ژوره برخه- زنخخے- (م- فارسی)-

زنخول:(زنخ-ول)اسم- د زړهٔ او امې تر مېنځه نری پرده-

زند:(زند)اسم- واحد- مذکر- د زردشت مذهبی کتاب- د اوستا تفسير-

زندان:(زن-دان)اسم- واحد- مذکر- (۱)جېل- بنديخانه- دَ قېديانو ځاې- (۲)د مېنې دَ لنګېدو په وخت راوتے لړمون- جمع زندانونه-

زندانی:(زن-دا-نی)اسم- واحد- مذکر/مؤنث- (۱)محبوس- (۲)دَ زندان سره متعلق- (۳)هغه څاروے چې زندان يې راوځی-

زندرک:(زن-د-رک)اسم- د لاندی ژامې او زنې هډوکے-

زندګی:(زن-د-ګی)اسم- مؤنث- ژوند- ژوندون-

زنده باد:(زن-ده-باد)کلمه- ژوندے وسه- دَ دعا کلمه-

زنده سر:(زن-ده-سر)اسم- ژوندی-

زنديق:(زن-ديق)اسم صفت- مذکر- زينديق- مُلحد- ګمراه- لهٔ خُدايه منکر-

زندی:(زن-دی)اسم- واحد جمع- مؤنث- زيندی- د غرغری پړے- دَ پهانسی کوسو کړی- تنزندی-

زنړه:(زن-ړه)اسم- واحد- مؤنث- يو بوټے- يوه جاړه-

زنزاړے:(زن-زا-ړے)اسم- واحد- مذکر- څاڅکے- قطره- څڅک-

زنزی:(زن-زی)اسم- بدبويه خټې- سخا خټې- زرنخی- زنخی-

زنغلے:(زن-غلے)اسم- زنګنے- زنګسی- ليمګرے- هغه پېيکه چې زرو پرتوک ته اچولے شی- (افغانستان)-

زن غوزی:(زن-غو-زی)اسم- جمع- مذکر- زن غوزی- چنغوزی- زن غوزی- چلغوزی- چغوزی-

زنکدن:(زن-که-دن)اسم- ځنکدن-

زنکی:(زن-کی)اسم- واحد جمع- مؤنث- زيره- يوه خوشبودار باريک تخم چې اکثر پهٔ ګرمه مصالحه کښې اچولے شی-

زنګ:(زنګ)اسم- مذکر- (۱)دَ اُسپنې خيرے- (۲)سخته يخنی- سخت ساړهٔ- (۳)وګورئ زنګار-

زنګ:(زنګ)اسم- مذکر- ټلی- د پيتلو يا اسپنې جوړه ټلی چې پهٔ سکولونو، کالجونو يا جېلونو کښې د ګنټې پوره کېدو نه پس وهلے شی- زنګوله- حرنګانے- ونګ- کيکړے- کرنګانے- کوکړے- شرنګانے-

زنګار:(زنګ-کار)اسم- مذکر- زنګ- زنګ زنګار- اسپخړے-

زنګال:(زنګ-ګال)اسم- (۱)زغل- ګرند- يخ چې پهٔ اُبو کښې روان وی- (۲)ولاړی چينجے چې فارسی کښې ورته زلال وائی-

زنګالی:(زنګ-ګا-لی)اسم صفت- سو ته نژدې يو قسم رنګ-

زنګل:(زنګ-ګل)مصدر- زنګل- تال خوړل- ځنګل- ځانګل-

زنګن:(زنګ-ګن)اسم صفت- (۱)زنګ لرونکے- (۲)حيرن-

زنګنی:(زنګ-ګنی)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ زنغلی-

"ګ" (ګی-رل)، "ې"(ضې-وه-ول)، "ی"(ېيا-لی)، "ے"(تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www pukhto net

زنګنے:[زنګ-ګه-نے]اسم- وګورئ زنګلے-
زنګوچ:[زنګ-ګوچ]اسم- مذکر- ځانګو- زانګو- زنګوبه- زانګیبه- پینګو-
زنګوره:[زنګ-ګو-ره]اسم- واحد- مؤنث- د کانو او تیږو کچه کور-
زنګورے:[زنګ-ګو-رے]اسم- پنډوړے- وښکالے- ګونګورے- ګوټکے- د انګورو روے- جمع زنګوري-
زنګول:[زنګ-ګ-ول]مصدر- (۱)ټالي ورکول- ښورول- زانګو ښورول- ځانګو ښورول- (۲)خبره وړدول- خبره خنډول-
زنګوله:[زنګ-ګو-له]اسم- ګینګرے- جرس- شرنګاٹے- زنګ-
زنګولي:[زنګ-ګو-لي]اسم- د زړه درد- د زړه خوږ- پریشاني- غم- ځمکان- د زړه سول-
زنګولے:[زنګ-ګ-ولے]اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع زنګولي- مؤنث زنګولې- وګورئ زنګول-
زنګون:[زنګ-ګ-ون]حاصل مصدر- وګورئ زنګول-
زنګون:[زنګ-ګون]اسم- نکی- بوټکے- د ورون او پنډۍ تر منځ برخه-
زنګونکے:[زنګ-ګ-ون-کے]اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زنګونکي- مؤنث زنګونکې- وګورئ زنګول-
زنګونګ:[زنګ-ګ-ونګ]حاصل مصدر- وګورئ زنګول-
زنګونه:[زنګ-ګ-ونه]حاصل مصدر- وګورئ زنګول-
زنګي:[زنګ-ګي]اسم صفت- واحد- مذکر- زنګ خوړلے- زنګ نیولے- زنګ وهلے-
زنګي:[زنګ-ګي]اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)حبشي- توروپوستے- توروپوټکے- (۲)تور غټ او تورے- جمع زنګیان-
زنګي:[زنګ-ګي]اسم صفت- واحد- مذکر- د پښتنو د ملي اتڼ ماهر-
زنګیه:[زنګ-یه]اسم- واحد- مؤنث- زنګوبه- زنګو- ځانګو-
زنګېدل:[زنګ-ګې-دل]مصدر- (۱)ټال خوړل- ټال کښې تلل راتلل- (۲)خبره وړدېدل- ټالېدل- خنډېدل-
زنګېدلے:[زنګ-ګې-دلے]اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع زنګېدلي- مؤنث زنګېدلې- وګورئ زنګېدل-
زنګېدن:[زنګ-ګې-دن]حاصل مصدر- وګورئ زنګېدل-
زنګېدنګ:[زنګ-ګې-دنګ]حاصل مصدر- وګورئ زنګېدل-
زنګېدنه:[زنګ-ګې-دنه]حاصل مصدر- وګورئ زنګېدل-
زنګېدونکے:[زنګ-ګې-دون-کے]اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زنګېدونکي- مؤنث زنګېدونکې- وګورئ زنګېدل-
زنګېده:[زنګ-ګې-ده]حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ زنګېدل-
زنل:[ز-نل]مصدر- (۱)پیوندول- په زنه کښې قلم لګول- (۲)چڅول- ټومبل- ننه ایستل- ځایول-
زنلے:[ز-نلے]اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع زنلي- مؤنث زنلې- وګورئ زنل-
زننه:[ز-ننه]حاصل مصدر- وګورئ زنل-
زنونکے:[ز-نون-کے]اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زنونکي- مؤنث زنونکې- وګورئ زنل-
زنه:[زنه]اسم- واحد- مؤنث- د لاندې شونډې او مرۍ تر مېنځه حصه- ژنه- جمع زنې-
زنه:[زنه]اسم- واحد- مؤنث- ونزه- ومره- جمع زنې-
زنه:[زنه]اسم- مؤنث- هغه رنګ چې د اش ورکولو څخه وروستو ګرمښې ته ورکولے کېږي-
زنه چوڅے:[زنه-چو-څے]اسم- چاه عبغب- د زنې قټے- زنخدان- زنخڅے-
زنهار:[زن-هار]اسم- خبردار- مرکز- هیڅکله- هو- بېخي- امان- پناه- د تاکید د پاره هم راځي-
زنغوزے:[زن-غو-زے]اسم- واحد- مذکر- چلغوزے- زنغوزے- جلغوزے- ځېغوزے- ځېغوزے- زرغوزے- جمع زنغوزي-
زنکي:[زن-کي]اسم- واحد جمع- مؤنث- چلکي- ژلکي- پېلمه- جبلي-
زنکي:[زن-کي]اسم- واحد جمع- مؤنث- زیره- (افغانستان)-
زنکي ښار:[زن-کي-ښار]اسم- د زیرې په شان پاڼي لرونکے یو بوټے چې بېخ ئې د کچالو غوندې وي او اوم خوړلے شي- ګردي کنډوله- (افغانستان)-
زنکے:[زن-کے]اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)کړاچے- ځوانکے- ځلمے- زنکے- جمع زنکي- (۲)زیره- جیره- خیره-
زنیه لار:[زن-یه-لار]اسم- یو رسم چې د واده په شپه د ناوې د بوتلو په وخت د جینۍ د کلي غریبانان د واده د ځلمي نه راتلوېږي او د واده ځلمے ورته پیسې ورکوي-
زنے:[زنے]اسم- واحد- مذکر- زړے- زونه- زونې- د خټکي هندوانې وغیره تخم- جمع زني-
زنے:[زنے]اسم صفت- واحد- مذکر- ځلمے- زنکے- ځوان- زنکے- جمع زني-
زنے:[زنے]اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)زخمي- ناجوړه- ناروغه- (۲)غریب- خوار- جمع زني- (افغانستان)-
زو:[زو]اسم- زیږنه- زیږونه- زوکړه-
زو:[زو]اسم صوت- (۱)زوېدا غږ- (۲)د روئ مخفف-
زو:[زو]اسم- د کچه خښتې تونه-
زو:[زو]اسم- زوبې- باغ و حش- د حیواناتو نندارتون- (افغانستان)-
زوا:[زوا]اسم- زاري- عذر- سوال- سېنتي-
زوال:[زوال]اسم- مذکر- ژوال- ژرند- ژرندون-
زواکر:[زوا-کر]اسم صفت- واحد- مذکر- زاري کونکے- زوا کونکے-
زوال:[ز-وال]اسم- مذکر- (۱)کمے- تنزل- د ترقۍ او د عروج کمېدنه- (۲)لږي کېدنه- (۳)ورکېدنه- (۴)له برمه پرېوتنه- (۵)لوېدنه- غرځېدنه-

زبر "(خ-مه-ره)، "زورکے "(شل)، "پېش "(نو-کا-سره)، "زیر "(کتاب)، "جزم "(شکون)، "ۀ "(ر-په)، "ۀ "(دو-مې-ده)

www.pukhto.net

(م- عربي)-

زواله:(زوا-لـه)اسم- واحد- مؤنث- پیړه- خواله- دَ روټی پخولو دَ پاره دَ اوړو پیړه- جمع زوالي- (م- فارسي)-

زوامده:(زوام-ده)اسم- د ملهمو د پاره پکارونکے یو قسم بوټے او د دي ملهم- (افغانستان)-

زوانکه:(زوا-نه-که)اسم- واحد- مؤنث- خوانکه- پهٔ خوانی کښې پهٔ مخ راختونکي دانه- زوانکه- جمع زوانکي-

زوانګه:(زوانګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ زوانکه- جمع زوانګي-

زوب:(زوب)اسم- واحد- مذکر- زیم- سیب- نم- څڅوبکے- لمدبل- تر-

زوبل:(زو-بل)اسم صفت- ژوبل- زخمي- (افغانستان)-

زوبن:(زو-بن)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- چوپړن- چوپن- چوپني سترګي لرونکے- مؤنث زوبنه-

زوت:(زوت)اسم صفت- یاد- پهٔ حافظه کښې محفوظ- (۲)ځوت- جوت- جُفت- دَ طاق ضد-

زوتول:(زو-ت-ول)مصدر- (۱)ضبط کول- (۲)یادول- زده کول-

زوتون:(زو-ت-ون)حاصل مصدر- وګورئ زوتول-

زوتونکے:(زو-ت-وون-کے)اسم فاعل- جمع زوتونکي- مؤنث زوتونکې- وګورئ زوتول-

زوتونګ:(زو-ت-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ زوتول-

زوتونه:(زو-ت-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ زوتول-

زوج:(زوج)اسم- مذکر- (۱)میړهٔ- (۲)جوړه- جُفت- (م- عربي)-

زوجه:(زو-جه)اسم- ښځه- ارتینه- ملندیمه- اورته- (م- عربي)-

زوجي:(زو-جي)اسم- صفت- د زوج سره متعلق- (م- عربي)-

زوجیت:(زو-جي-یت)اسم- دَ ښځې خاوند دَ نکاح رشته- (م- عربي)-

زوخلول:(زوخ-ل-ول)مصدر- زوکلول- ځکلول- ریږول- خوږول- لړزول-

زوخلون:(زوخ-ل-ون)حاصل مصدر- وګورئ زوخلول-

زوخلونکے:(زوخ-ل-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زوخلونکي- مؤنث زوخلونکې- وګورئ زوخلول-

زوخلونګ:(زوخ-ل-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ زوخلول-

زوخلونه:(زوخ-ل-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ زوخلول-

زوخلیدل:(زوخ-لي-دل)مصدر- زوکلیدل- ریږیدل- خوږیدل- لړزیدل-

زوخلیدن:(زوخ-لي-دن)حاصل مصدر- وګورئ زوخلیدل-

زوخلیدنګ:(زوخ-لي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ زوخلیدل-

زوخلیدنه:(زوخ-لي-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ زوخلیدل-

زوخلیدونکے:(زوخ-لي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زوخلیدونکي- مؤنث زوخلیدونکې- وګورئ زوخلیدل-

زوخلیدهٔ:(زوخ-لي-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ زوخلیدل-

زوخه:(زو-خه)ضمیر متصل- څخه- سره- جمع زوخې-

زود:(زود)اسم- ژر- بیړه کونه- (م- فارسي)-

زودل:(زو-دل)مصدر- روکول- رودل- زیږول-

زودن:(زو-دن)حاصل مصدر- وګورئ زودل-

زودنګ:(زو-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ زودل-

زودنه:(زو-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ زودل-

زور:(زور)اسم- واحد- مذکر- (۱)طاقت- قوت- توان- تاو- سېکه- (۲)جبر- ظلم- زیاتے- (۲)معدی- جمع زورونه-

زور:(زور)اسم صفت- مذکر- (۱)ژر اوریدونکے- د تیرو غوږونو خاوند- (۲)خبر- متوجه-

زور:(زور)اسم صفت- ذهین- تیز یاداشت لرونکے-

زور:(زور)اسم- واحد- مذکر- متحه- جمع زورونه-

زور:(ز-ور)اسم صفت- ژور- ږونکے- عمیق- دَ رنې ضد- (افغانستان)-

زوران:(زو-ران)اسم- وګورئ زوراک-

زوراک:(زو-راک)اسم- زورلق- پسخاک- زرهٔ خورګي-

زوراور:(زو-را-ور)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- زورور- (۱)طاقتور- توښناک- سېکور- (۲)جابر- ظالم-

زورتوب:(زور-توب)اسم- زورتیا- (۱)پهٔ غوږونو ښهٔ اوریدنه- (۲)خبرکیدنه- متوجه کیدنه- (افغانستان)-

زورتیا:(زور-تیا)اسم- وګورئ زورتوب-

زور زیاتے:(زور-زیا-تے)اسم- واحد- مؤنث- ظلم- تیرے- ستم- جمع زورزیاتي-

زور شور:(زور-شور)اسم صفت- شان شوکت- ګرماګرمي- ګرمجوشي-

زورق:(زو-رق)اسم- کشتي- وړه کشتي-

زورکے:(زو-ر-کے)اسم- زورکے زور- د پښتو مخصوص حرکت چې دَ نیم زور برابر وي او اکثه لیکلے شي-

زورل:(زو-رل)مصدر- خورول- رورول- زېرل- پهٔ عذابول- (۲)ملامته کول- سهوري ستغې ونېل-

زورلے:(زو-ر-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع زورلي- مؤنث زورلې- وګورئ زورل-

زورمتي:(زور-م-تي)اسم- مؤنث- زیاتے- ظلم- جبر-

زورمتے:(زور-م-تے)اسم صفت- واحد- مذکر- ظالم- زورور- جمع زورمتیان-

زورمن:(زور-من)اسم صفت- زور لرونکے-

زورمنهي:(زور-من-هي)اسم- زور لګونه- د مطلب پوره کونه-

زورنه:(زو-ر-نه)حاصل مصدر- وګورئ زورل-

زوروالے:(زور-وا-لے)اسم- مذکر- زورتوب- زورتیا-

زورور:(زو-ر-ور)اسم صفت- واحد- مذکر- زور لرونکے- د زور خاوند-

زورورتوب:(زو-ر-ور-توب)اسم- مذکر- (۱)زورورتیا- قوت- طاقت-

یٔ (ښی-ول)، ې (مې-رمـول)، ی (پیا-لی)، ے (تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www pukhto net

زوروروالی- (۲)جابرتوب- ظالم توب-

زوروتیا:(زو-ر-ور-تیا)اسم- مؤنث- وګورئ زوروروتوب-

زوروروالی:(زو-ر-ور-والی)اسم- مذکر- وګورئ زوروروتوب-

زورول:(زو-ر-ول)مصدر- خورول- دردول- پارول- زهل- د عذاب لاندې راوستل-

زورون:(زو-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ زورول-

زورونکی:(زو-ر-وون-کی)اسم فاعل- جمع زورونکي- مؤنث زورونکې- وګورئ زورول-

زورونګ:(زو-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ زورول-

زورونه:(زو-ر-ونه)حاصل مصدر- وګورئ زورول-

زوریات:(زو-ري-یات)اسم- جمع- اولاد- الواد- زوزاد- نسل- زودات- (م- عربي)-

زورېدل:(زو-ري-دل)مصدر لازم- خوربدل- دردېدل- پارېدل- زهلی کېدل- د عذاب لاندې راتلل-

زورېدلی:(زو-ري-دلی)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع زورېدلي- مؤنث زورېدلې- وګورئ زورېدل-

زورېدن:(زو-ري-دن)حاصل مصدر- وګورئ زورېدل-

زورېدنګ:(زو-ري-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ زورېدل-

زورېدنه:(زو-ري-دنه)حاصل مصدر- وګورئ زورېدل-

زورېدونکی:(زو-ري-دون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زورېدونکي- مؤنث زورېدونکې- وګورئ زورېدل-

زورېده:(زو-ري-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ زورېدل-

زوړ:(زوړ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)بوډا- د پېر عمر- عمر خوړلی- سپین ږیری- (۲)د نوي مقابل- جمع زاړه-

زوړتوب:(زوړ-توب)اسم- زړښت- زوړوالی- زړتیا- زوړتیا- بوډاتوب- سپین ږیرتوب-

زوړکی:(زوړ-کی)اسم- واحد جمع- مؤنث- د ماشومانو د سپېتو یوه لوبه- (افغانستان)-

زوړکی:(زوړ-کی)اسم- واحد- مذکر- زړوکی- پېرونی- ټیکری- جمع زوړکي-

زوړوالی:(زوړ-والی)اسم- مذکر- وګورئ زوړتوب-

زوړ وت:(زوړ-وت)اسم- زړه ورځ- د سن رانتکال د دوران او د زمکو د جوړښت له نظره د درو په ویش کښې د یو ویش نوم- (افغانستان)-

زوړی:(زو-ړی)اسم- واحد- مذکر- پېټی- بار- پنډ- وزن- جمع زوړي-

زوزات:(زو-زات)اسم- جمع- مذکر- زوزاد- نسل- بال بچ- اولاد-

زوزاد:(زو-زاد)اسم- جمع- مذکر- وګورئ زوزات- (م- فارسي)-

زوږ:(زوږ)اسم- مذکر- شور- عوغا- غالمغال- غورېش- غورمش-

زوږ:(زوږ)اسم صفت- واحد-جمع- مذکر- (۱)تریخ- د خوږ ضد- (۲)زهر-

زوږ:(زوږ)اسم صفت- بایانه- قحط- کاخت-

زوړ:(زو-ړ)اسم صوت- زړا- ږړا- چړا- د غوښې یا د کباب د ورتولو اواز-

زوړتلانګ:(زوړ-ت-لانګ-ګ)اسم- غونګ- کانګی- ازانګه- د اواز انعکاس-

زوږ زوږ:(زوږ-زوږ)اسم صوت- شور ماشور- (۲)بې ځایه او بې خونده شور- غالمغال-

زوږم:(زوږ-م)اسم- مذکر- ږوم- بوی- رایحه- جمع زوږمونه-

زوږندی:(زوږ-ند-دی)اسم صفت- شور زوږ کوونکی- جمع زوږندي-

زوږېدل:(زوږ-ي-دل)مصدر لازم- شور زوږ کول- غورېش او زوږ جوړېدل- غورمش جوړول-

زوښ:(زوښ)اسم- مذکر- جوش- خوټ-

زوښا:(زو-ښا)اسم- مؤنث- خوښا- زوښه- زوشاب- جوشاب- د مېوو شیره- (افغانستان)-

زوښتی:(زوښ-تی)اسم- د زردالو په شېر پاڼې لرونکی یو قسم بې مېوې بوټی- جمع زوښتي- (افغانستان)-

زوښول:(زو-ښول)مصدر متعدي- جوش کول- خوټکول- یشول- خوټول-

زوښه:(زو-ښه)اسم- وګورئ زوښا-

زوغرخه:(زوغ-ړن-خه)اسم- مؤنث- زغرخه- بې مغزه پسته- دانې نه لرونکې پسته- جمع زوغرخې-

زوغوښېدل:(زو-غوښي-دل)مصدر لازم- (۱)راوتل- (۲)په راوتل- (۳)په زور بهر ته راوتل-

زوغوښېدن:(زو-غوښي-دن)حاصل مصدر- وګورئ زوغوښېدل-

زوغوښېدنګ:(زو-غوښي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ زوغوښېدل-

زوغوښېدنه:(زو-غوښي-دنه)حاصل مصدر- وګورئ زوغوښېدل-

زوغوښېدونکی:(زو-غوښي-دون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زوغوښېدونکي- مؤنث زوغوښېدونکې- وګورئ زوغوښېدل-

زوغوښېده:(زو-غوښي-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ زوغوښېدل-

زوک:(زوک)اسم- مذکر- زحمت- ربړ- کړاو- تکلیف-

زوک:(زوک)اسم- د کاریز ګلګه شوې خټه- مقرینه خټه-

زوکړه:(زوک-ړه)اسم- مؤنث- پیدا کېدنه- تولد- زېږېدنه- (افغانستان)-

زوکړی:(زو-کړی)اسم مفعول- واحد- مذکر- زېږولی- زوولی- پیدا کړی- جمع زوکړي-

زوکلول:(زوک-ل-ول)مصدر متعدي- خورول- ربړول- کړول-

زوکلون:(زوک-ل-ون)حاصل مصدر- وګورئ زوکلول-

زوکلونکی:(زوک-ل-ون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زوکلونکي- مؤنث زوکلونکې- وګورئ زوکلول-

زوکلونګ:(زوک-ل-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ زوکلول-

زبر "(ځ-پیلـ-ره)، زورکی "(شل)، پېښ "(نو-ګـا-ره)، زېر "(کـ-تاب)، جزم "(شکون)، ه "(ز-ړه)، ۀ "(پو-ښې-دۀ)

www.pukhto.net

زوکلونه:(زُو کَ-له-وُ-نه)حاصل مصدر- وګورئ زوکلول-

زوکلېدل:(زُو کَ-لې-دَل)مصدر لازم- خوربدل- کرېدل- ربړېدل-

زوکلېدلے:(زُو کَ-لې-دَ-لے)اسم معمول صفت- واحد- مذکر- جمع زوکلېدلي- مؤنث زولکېدلې- وګورئ زوکلېدل-

زوکلېدن:(زُو کَ-لې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ زوکلېدل-

زوکلېدنګ:(زُو کَ-لې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ زوکلېدل-

زوکلېدنه:(زُو کَ-لې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ زوکلېدل-

زوکلېدونکے:(زُو کَ-لې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زوکلېدونکي- مؤنث زوکلېدونکې- وګورئ زوکلېدل-

زوکلېده:(زُو کَ-لې-دَه)حاصل مصدر- وګورئ زوکلېدل-

زوکول:(زو-کَ-ول)مصدر متعدی- پیدا کول- زېږول- (افغانستان)-

زوکونکے:(زو-کَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زوکونکي- مؤنث زوکونکې- وګورئ زوکول-

زوکونه:(زو-کَ-وُ-نه)حاصل مصدر- وګورئ زوکول-

زوکه:(زُو-کَه)اسم- مؤنث- اوږد پنډر او غټو ببخ لرونکے یو قسم بوټے-

زوکه:(زو-کَه)اسم- مؤنث- دَ کور کالی- د کور سامان- دَ کور لوښي، کهړي وغېره- زوله-

زول:(زَ-وَل)اسم- واحد- مذکر- زیړ ګل لرونکے یو قسم تریخ بوټے چې پهٔ دوایانو کښې پکاریږي- (افغانستان)-

زول:(زوَل)اسم- واحد- مذکر- دریچه- دریڅه- درڅه- روزان- دَ کوټې پهٔ چت کښې سورے- کولکه- جمع زولونه-

زول:(زوَل)اسم- مذکر- خول- تېزه سېلۍ چې ځان سره دوړې راپورته کړي- سېلۍ-

زولال:(زو-لال)اسم صفت- واحد- مذکر- جابر- ظالم- مستبد-

زولاندے:(زو-لان-دے)اسم مفعول- واحد- مذکر- مظلوم- دَ ظلم لاندې-

زولانه:(زو-لا-نه)اسم- واحد- مؤنث- خولنه- زاولنه- بېړی- هتکړی- هغه زنځير چې دَ بندیانو پښو ته اچولے شي- زولنه-

زولن:(زو-لن)اسم صفت- مذکر- زون- لهٔ زوو ډک- زوې لرونکے زخم-

زولنه:(زو-لَ-نه)اسم- مؤنث- خولنه- وګورئ زولانه-

زوله:(زو-له)اسم- مؤنث- زوکه- دَ کور لوښي- دَ کور اسباب-

زوله:(زو-له)اسم- تر شهیږ میټرو رسېدونکے یو اوږد غنمي (جوال)- (افغانستان)-

زوله زوله:(زو-له-زو-له)اسم صفت- مؤنث- شواړ- بېر شلم- بې ترتيبه او بې نظمه شے-

زولی زمبېلی:(زو-لی-زَم-بې-لی)اسم مرکب- جمع- (۱)بوره- کورے- (۲)هغه لوښے یا ځادر چې دَ توتانو نه پکښې توتان راټنبوی- خولی- جولی- دَ ځادر جولی- (۲)زړي کهړي- زړي بوټي- زاړهٔ کالي-

زولی:(زو-لی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- جولی- لمن- خولی-

زولے:(زو-لے)اسم- دَ لمڅیو غُونډے چې دَ عوړیو ژے پکښې اېښوے شي- (افغانستان)-

زولے زولے:(زو-لے-زو-لے)اسم صفت- واحد- مذکر- شلم شلم- سست پست- شواړ شواړ- (افغانستان)-

زوم:(زوم)اسم- (۱)دَ لور مېړهٔ- (۲)دَ وادهٔ ځلمے-

زوم:(زوم)اسم صفت- مذکر- (۱)کم شوے- لږ ایستلے شوے- (۲)اسم- کمېدنه- د یو څیز ورکېدنه- نایاب کېدنه- (افغانستان)-

زومبک:(زوم-بَک)اسم- مذکر- (۱)زُمبک- دَ جوارو دَ وږی وېښته- (افغانستان)- (۲)یو خودرو صحرائي بوټے چې د خشاک پهٔ توګه پکاروله شي-

زومبک ستوری:(زوم-بَک-ستو-ری)اسم مرکب- جمع- (۱)پېروني- (۲)پرِه- خېره- قطار- لیکه- (۳)ږغ- خنده- (افغانستان)-

زومبکے:(زوم-بَ-کے)اسم- (۱)وړوکے زومبک- (۲)والی- دَ غوږونو لښتي- پېږی- (افغانستان)-

زومبول:(زوم-بَ-ول)مصدر- وګورئ خومبول-

زومبېدل:(زوم-بې-دَل)مصدر لازم- وګورئ خومبېدل-

زومتوب:(زوم-توب)اسم- مذکر- (۱)زوموالے- زومولي- زوم کېدنه- زومتيا- (۲)کمښت- کموالے- لږوالے-

زومتیا:(زوم-تيا)اسم- مؤنث- وګورئ زومتوب-

زومړے:(زو-مَ-ړے)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه ګوړک چې زوږ يې مړ وي- بچی مړے- بوږچنو- زوږ مړے-

زومکے:(زو-مه-کے)اسم- مذکر- یو قسم واښهٔ چې خلق يې دَ خوند دَ پاره خوري- جمع زومکي-

زومکاړے:(زوم-کا-ړے)اسم- واحد- مذکر- هغه کس یا سړے چې دَ زوم سره یو ځای دَ سحر کره ځي- جمع زومکاړي-

زومکے:(زوم-کے)اسم تصغیر- زوم کوټے- (دَ مینې توري)-

زومل:(زو-مَل)مصدر- ژمنه کول- زمنه کول- وعده کول-

زومن:(زو-مَن)اسم- واحد/جمع- مذکر- دَ کافورو پهٔ شان بوی لرونکي یو زهرژنه کیمیائي ماده-

زومنه:(زوم-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)شوروا- زېمنه- شوروا- شوربا- (۲)نقصان- زیان- تاوان- خساره-

زوموالے:(زوم-وا-لے)اسم- مذکر- وګورئ زومتوب- زوم کېدنه-

زوموالے:(زوم-وا-لے)اسم- مذکر- (۱)وګورئ زومتوب- (۲)کمښت-

زومی:(زو-مي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- صابون بوټے- زمی-

زومی کنده:(زو-مي-کَن-ده)اسم مرکب- مؤنث- واښهٔ لرونکي زمکه- وښیانه زمکه- جمع زومي کندې- (افغانستان)-

زون:(زون)اسم- (۱)سیمه- منطقه- (۲)طبقه- (۳)قلمرو- (۴)کمربند-

زونبه:(زوم-به)اسم- سترګک- سترګه خمبونه-

www.pukhto.net

زونخه:(زون-خه)اسم- تېراب- جمع زونخې-

زوند:(زوند)اسم- مذکر- ژوند- ژوندون- (افغانستان)-

زوندون:(زون-دون)اسم- مذکر- ژوندون- ژوند- (افغانستان)-

زوندی:(زون-دی)اسم صفت- مذکر- ژوندی- (افغانستان)-

زونګ:(زونګ)اسم- انګې- ازانګه- کانګې- غُنګ- دَ غرهٔ یا ګنبد اواز چې راتمبېږي- انګازه-

زونګه:(زونګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- زوبې- بېچومې- کرنج-

زونګه:(زونګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)انګازه- زونګې- د اواز انعکاس- (۲)دَ ګونګوسې اواز- جمع زونګې-

زونګی:(زونګ-ګی)اسم- واحد- مذکر- وګورئ زونګه- جمع زونګي-

زوني:(زو-ني)متعلق فعل- ښني- ښېي- بعض- بعضې- (افغانستان)-

زونی:(زو-نی)اسم- واحد- مذکر- یو خاص قسم خوښېږي او ګنډورن چې دَ دسترخوان دَ بانسنت دَ پاره لهٔ سرو سنيو نه جوړيږي- جمع زوني- (افغانستان)-

زونبې:(زو-نبې)اسم- واحد- مذکر- زړې- زونه- زنبې- دَ خټکي یا مندواني تخم- (افغانستان)-

زووب:(زو-وب)اسم- مذکر- زوه- نو- غم- دَ زخم زوه- (افغانستان)-

زوول:(زو-ول)مصدر متعدی- (۱)زېږول- پېدا کول- راوړل- زوکول- (۲)سولول- زدویل- زوبېل- سلمیل- زدوول- (۳)زوول- زبیل- (عام طور سره دَ کرتوس دَ پاره راځي)-

زوول ستوری:(زو-ول-ستو-ری)اسم- وګورئ زحل-

زوولی:(زو-ول-لی)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع زوولي- مؤنث زوولې- وګورئ زوول-

زوون:(زو-ون)حاصل مصدر- وګورئ زوول-

زوونکی:(زو-ون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زوونکي- مؤنث زوونکې- وګورئ زوول-

زوونګ:(زو-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ زوول-

زوونه:(زو-ونه)حاصل مصدر- وګورئ زوول-

زووه:(زو-وه)اسم صفت- دَ غرهٔ دَ لمنې هغه ځای چې په ګرمۍ کښې پرې لمر راځي-

زووی:(زو-وی)اسم- دَ وړو ماشومانو یوه بیماري-

زوه:(زوه)اسم- واحد- مؤنث- دَ زخم نو- دَ دانې خړ رنګ لرونکې ابه- پیپ- جمع زوې-

زوهېدل:(زو-هې-دل)مصدر لازم- دَ زخم تړېدل- دَ پرهر ابهٔ کول- دَ زخم خُخنږدل-

زوهېدلی:(زو-هې-دلی)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع زوهېدلي- مؤنث زوهېدلې- وګورئ زوهېدل-

زوهېدن:(زو-هې-دن)حاصل مصدر- وګورئ زوهېدل-

زوهېدنګ:(زو-هې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ زوهېدل-

زوهېدنه:(زو-هې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ زوهېدل-

زوهېدونکی:(زو-هې-دون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زوهېدونکي- مؤنث زوهېدونکې- مزوګورئ زوهېدل-

زوهېده:(زو-هې-ده)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ زوهېدل-

زوی:(زوی)اسم- واحد- مذکر- ځوی- دَ انسان نارینه اولاد- بچی- جمع زامن-

زوېرګی:(زوېر-ګی)اسم- واحد- مذکر- رسرګی- رګېړوی- زبېرګی- رګروی- فریاد- ملانه- نالېښت- جمع زوېرګي-

زوی غلی:(زوی-غ-لی)اسم- برغلی- تلېمن- تلېمنګ-

زوی مړی:(زوی-مړی)اسم صفت- واحد- مذکر- زړیه مړی- چې دَ چا زوی مړ وي یا ئې نارینه اولاد نهٔ پاتې- جمع زوی مړي-

زوی میو:(زوی-میو)اسم- پهٔ ځوې مېولې شوی- دیني زوی- زوی بللی- (افغانستان)-

زوی والی:(زوی-وا-لی)اسم- زوی توب- زوی واله- زوولی-

زه:(زه)ضمیر مفرد متکلم ضمیر- ځان طرف ته اشاره-

زهد:(زهد)اسم- پرهېز- تقوی- (م- عربي)-

زهر:(زهر)اسم- مذکر- (۱)زار- ګنهېر- اېهېر- جر- (۲)صفت- تریخ- (م- فارسي)-

زهرا:(زهرا)اسم صفت- روښانه- ځلانده- (م- فارسي)-

زهردار:(زهر-دار)اسم صفت- مذکر- ګنهېرن- حرمن- زهرناک- زهرژن- زهر لرونکی- (م- فارسي)-

زهرګنهېر:(زهر-ګن-هېر)اسم- زاروګنهېر- سریخ- بې خونده-

زهرګیا:(زهر-ګیا)اسم- یو تریخ بوټی چې ښکاري ئې پهٔ خوراک سره مري

زهرموره:(زهر-مو-ره)اسم- مؤنث- زارموره- جړمري- جړي- یو قسم مري چې دَ زهرو دَ علاج دَ پاره بکارولی شي- (م- فارسي)-

زهرمېره:(زهر-مېره)اسم- مؤنث- وګورئ زهرموره-

زهرناک:(زهر-ناک)اسم صفت- مذکر- زهردار- زهرژن- زهرلرونکی- (م- فارسي)-

زهره:(زهره)اسم- مؤنث- دَ ماښام ستړګه- ماښامی ستوری- ماښام ستړګه- (م- فارسي)-

زهره:(زهره)اسم- واحد- مؤنث- زاده- تریخی- بوری- دَ بنیادم دَ بدن دننه یو عضو- جمع زهرې-

زهره ترکی:(زهره-تر-کی)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)زاره چاودی- (۲)استړی ستومانه- ذری ذری- ټیکه ټیکه- جمع زهره ترکي-

زهری:(زه-ری)اسم صفت- زهریلا- زهردار- دَ زهرو سره متعلق- (م- فارسي)-

زهریت:(زهری-یت)اسم- دَ زهرو خاصیت- (م- فارسي)-

زبر "(ح-سبته-سره)- "زورکی" (شل)، "پېش" (ثو-کاسره)، "زبر" (کـ-تـاب)، "جزم" (شکوب)، "ه" (ر-ږه)، "ة" (پو-هي-دهٔ)

www.pukhto.net

زهریله:(زه-ری-له)اسم صفت- واحد- مؤنث/مذکر- زهردار- زهر لرونکے- چې زهر پکښې ګډ وي-

زمګیر:(زه-ګیر)اسم- د کمان لاستے- موټے- دسته- دوه غاښے-

زمن:(زه-مَن)اسم- جمع- مذکر- زامن- خامن-

زموب:(زه-موب)اسم- مذکر- زوه- دَ زخم اُبه-

زموزاد:(زه-مو-زاد)اسم- مذکر- زورات- اولاد- بال بچ-

زمول:(زهٔ-مه-ول)مصدر- ضعیفول- خوارول- دَ غم یا بیمارۍ په وجه کمزورے کول-

زمولے:(زهٔ-مه-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع زمولی- مؤنث زمولې- وګورئ زمول-

زمون:(زهٔ-مه-ون)حاصل مصدر- وګورئ زمول-

زمونکے:(زهٔ-مه-ورن-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زمونکی- مؤنث زمونکې- وګورئ زمول-

زمونګ:(زهٔ-مه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ زمول-

زمونه:(زهٔ-مه-ونه)حاصل مصدر- وګورئ زمول-

زمیر:(زَ-میر)اسم صفت- مذکر- (۱)کمزورے- ناتوان- ضعیف- (۲)ازار شوے- په تکلیف شوے- (۳)غمژن- خفه- خوابدے-

زمیرتوب:(ز-میر-توب)اسم- مذکر- زمیرتیا- زمیروالے- (۱)کمزورتیا- ناتواني- (۲)ازار- عذاب- تکلیف- (۳)غمژن توب- غمژن تیا- خوابدي- رږهٔ ںداوے-

زمیرتیا:(ز-میر-تیا)اسم- مؤنث- وګورئ زمیرتوب-

زمیروالے:(زَ-میر-وا-لے)اسم- مؤنث- وګورئ زمیرتوب-

زمیرول:(ز-مي-ر-ول)مصدر- (۱)خوارول- ناتوانه کول- کمزورے کول- (۲)غمژنول- خفه کول- خوابدے کول- (۳)خپول- سپکول- خجلول- (۴)تکلیف ورکول-

زمیرون:(ز-مي-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ زمیرول-

زمیرونکے:(ز-مي-ر-ورن-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زمیرونکی- مؤنث زمیرونکې- وګورئ زمیرول-

زمیرونګ:(ز-مي-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ زمیرول-

زمیرونه:(ز-مي-ر-ونه)حاصل مصدر- وګورئ زمیرول-

زمیرېدل:(ز-مي-رې-دل)مصدر لازم- (۱)کمزورے کېدل- ضعیفېدل- (۲)خفه کېدل- خوابدے کېدل- (۳)عذابېدل- ازارېدل- (۴)خپېدل- شرمېدل- خجلېدل-

زمیرېدن:(ز-مي-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ زمیرېدل-

زمیرېدنګ:(ز-مي-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ زمیرېدل-

زمیرېدنه:(ز-مي-رې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ زمیرېدل-

زمیرېدونکے:(ز-مي-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زمیرېدونکی- مؤنث زمیرېدونکې- وګورئ زمیرېدل-

زمیرېدهٔ:(ز-مي-رې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ زمیرېدل-

زمېدل:(زهٔ-مې-دل)مصدر- ضعیفېدل- د غم یا بیمارۍ په وجه کمزورے کېدل-

زمېدلے:(زهٔ-مې-دهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع زمېدلی- مؤنث زمېدلې- وګورئ زمېدل-

زمېدن:(زهٔ-مې-دن)حاصل مصدر- وګورئ زمېدل-

زمېدنګ:(زهٔ-مې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ زمېدل-

زمېدنه:(زهٔ-مې-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ زمېدل-

زمېدونکے:(زهٔ-مې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زمېدونکی- مؤنث زمېدونکې- وګورئ زمېدل-

زمېدهٔ:(زهٔ-مې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ زمېدل-

زی:(زی)دا لفظ دَ بعضې قبیلو دَ نومونو سره وروستو راځي لکه بارکزی اورکزی- یوسفزی وغیره-

زیا:(زیا)اسم- مؤنث- (۱)پلوه- یادګیرنه- د احوال پښتنه- (۲)خورتیا- پوهه- پویه- عقل- دانش-

زیات:(زیات)اسم صفت- مذکر- زیاد- ډېر- سېوا- زښت- بلندي- تېرے-

زیاتره:(زیا-تره)اسم صفت- اکثر- ډېر زیات- زښت ډېر-

زیاتمه:(زیا-تهٔ-مه)اسم- زیاتے- زورنه-

زیاتوالے:(زیات-وا-لے)اسم- زیاتوب- ډېروالے- ډېرښت-

زیاتوب:(زیا-توب)اسم- وګورئ زیاتوالے-

زیاتول:(زیا-تَ-ول)مصدر متعدی- (۱)ډېرول- تولول- جمع کول- (۲)جګول- لوړول- ډېر زمل-

زیاتون:(زیا-تُون)اسم- د زیاتون مصدر نه اسم- وګورئ زیاتول-

زیاتون:(زیا-تَ-ون)حاصل مصدر- وګورئ زیاتول-

زیاتونکے:(زیا-تَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زیاتونکی- مؤنث زیاتونکې- وګورئ زیاتول-

زیاتونګ:(زیا-تَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ زیاتول-

زیاتونه:(زیا-تَ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ زیاتول-

زیاتي:(زیا-تي)اسم صفت- اضافي- لهٔ حده وتلے یا وتلې-

زیاتېدل:(زیا-تې-دل)مصدر لازم- ډېرېدل- پرېمانه کېدل- اضافه کېدل-

زیاتېدن:(زیا-تې-دن)حاصل مصدر- وګورئ زیاتېدل-

زیاتېدنګ:(زیا-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ زیاتېدل-

زیاتېدنه:(زیا-تې-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ زیاتېدل-

زیاتېدونکے:(زیا-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زیاتېدونکی- مؤنث زیاتېدونکې- وګورئ زیاتېدل-

زیاتېدهٔ:(زیا-تې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ زیاتېدل-

ی" (څي-رل)، ې"(ښي-ره-ول)، ي"(پیا-لي)، ئ"(تن-دي) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۹

www.pukhto.net

زیاتے:(زیا-تے)اسم- (۱)زور- ظلم- تیرے- تجاوز- (۲)زیاتوالے- ډېروالے-
زیاد:(زیاد)اسم صفت- واحد/جمع- مذکر- زیات- ډېر- زښت- بانډې- (م- فارسی)-
زیار:(زیار)اسم- مذکر- (۱)زحمت- ربړ- (۲)کوشش- جدوجهد- (۳)افسوس- ارمان-
زیارت:(زیا-رت)اسم- واحد- مذکر- (۱)قبر- مزار- (۲)ملاقات- لیدنه-
زیارت گاه:(زیا-رت-گاه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دیره- هدیره- مقبره- ییدره- دَ بښخېدو ځایَ- (۲)دَ لیدلو کتلو ځایَ-
زیارکښ:(زیار-کښ)اسم صفت- مذکر- (۱)زحمت کښ- خواری کښ- (۲)زیار ایستونکے- کوشش کونکے- جمع زیارکښان/زیارکښی-
زیارکښی:(زیار-کښی)اسم- دَ زیارکښ جوړېدو حالت-
زیارنه:(زیا-رنه)اسم- مؤنث- زحمت- زیار- کوشش-
زیاړه:(زیا-ړه)اسم- مؤنث- ښکنځل- ریړه- ښکنځله- کنځل- کنځا- سکنځا- جمع زیاړی-
زیان:(زیان)اسم- واحد- مذکر- (۱)تاوان- ضرر- نقصان- خساره- (۲)دَ اولاد بې وخته غرځېدنه- مړ بچے زېږدنه-
زیانکار:(زیان-کار)اسم صفت- مذکر- مضر- زیان رسونکے- نقصان رسونکے- مؤنث زیانکاره- جمع زیانکاری/زیانکاران-
زیانکاری:(زیان-کاری)اسم- مضرتوب- زیان رسونه-
زیانمن:(زیان-من)اسم صفت- واحد/جمع- مذکر- تاوانی شوے- نقصانی شوے-مؤنث زیانمنه- جمع مؤنث زیانمنې-
زیانمن توب:(زیان-من-توب)اسم- مذکر- ضرر- تاوان- نقصان- خساره- نقص-
زیانمتیا:(زیان-من-تیا)اسم- مؤنث- وګوری: زیانمن توب-
زیانول:(زیا-نول)مصدر- (۱)نقصانول- نقصان کول- تاوان کول- (۲)اولاد ضائع کول- اولاد بې وخته غرځول-
زیانون:(زیا-نون)حاصل مصدر- وګوری: زیانول-
زیانونکے:(زیا-نون-کے)اسم فاعل- جمع زیانونکی- مؤنث زیانونکې- وګوری: زیانول-
زیانونګ:(زیا-نونګ)حاصل مصدر- وګوری: زیانول-
زیانونه:(زیا-نونه)حاصل مصدر- وګوری: زیانول-
زیانی:(زیا-نی)اسم صفت- تاوانی- نقصانی- دَ ضرر- دَ زیان-
زیانېدل:(زیا-نې-دل)مصدر لازم- (۱)تاوانېدل- نقصانی کېدل- تاوانی کېدل- ضرر رسېدل- (۲)اولاد نقصانېدل- بچے ضائع کېدل-
زیانېدن:(زیا-نې-دن)حاصل مصدر- وګوری: زیانېدل-
زیانېدنګ:(زیا-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګوری: زیانېدل-
زیانېدنه:(زیا-نې-دنه)حاصل مصدر- وګوری: زیانېدل-
زیانېدونکے:(زیا-نې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زیانېدونکی- مؤنث زیانېدونکې- وګوری: زیانېدل-
زیانېده:(زیا-نې-ده)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګوری: زیانېدل-
زیاوې:(زیا-وې)اسم- جمع- پووې- سدونه- عقونه- (افغانستان)-
زیتر:(زی-تر)اسم- دَ موسیقۍ یوه آله-
زیچ:(زیچ)اسم- (۱)زیچ- دَ نجوم حساب- (۲)دَ ستوریو دَ پېژندنې طریقه- (۳)ایسارېدنه- راګېرېدنه- (دَ شطرنج لوبه کښې)-
زیر:(زیر)اسم- زیبیر- زانګ-
زیروبم:(زی-رو-بم)اسم صفت- لوړ ژور- ټیټ و هسک- سر او سرور- په سندرو وئیلو کښې په ډېر خوږ اواز سره دَ اواز ټیټول او هسکول او په اواز کښې خوږوالے پیدا کول-
زیرک:(زی-رک)اسم صفت- هوښیار- عقلمند- دانا- پوه- څور- خیره- (م- فارسی)-
زیره:(زی-ره)اسم- مؤنث- وګوری: خیره- (افغانستان)-
زیرېدل:(زی-رې-دل)مصدر لازم- (۱)زهیرېدل- زیـبېرېدل- خفه کېدل- (۲)پسخېدل-
زیرېدن:(زی-رې-دن)حاصل مصدر- وګوری: زیرېدل-
زیرېدنګ:(زی-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګوری: زیرېدل-
زیرېدنه:(زی-رې-دنه)حاصل مصدر- وګوری: زیرېدل-
زیرېدونکے:(زی-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زیرېدونکی- مؤنث زیرېدونکې- وګوری: زیرېدل-
زیرېده:(زی-رې-ده)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګوری: زیرېدل-
زیږ:(زیږ)اسم صفت- مذکر- ژیړ- ژړ- یو قسم رنګ-
زیږبخن:(زیږ-بخن)اسم صفت- ژیړبخن- زیږغلن- ژروزمه- ژړوبره- زیږ رنګ ته مائیل-
زیږپوستے:(زیږ-پوس-تے)اسم صفت- مذکر- ژړ نژاد- زیږ نژاد- جمع زیږپوستی-
زیږ پیږ:(زیږ-پیږ)اسم صفت- مذکر- (۱)زیږ بورق- زیږ کدو- زیړا- زیږ مخے- (۲)خوار او ماندہ- په رنګ تک زیږ-
زیږتوب:(زیږ-توب)اسم- مذکر- وګوری: زیږوالے-
زیږتیا:(زیږ-تیا)اسم- مؤنث- وګوری: زیږوالے-
زیږدالو:(زیږ-دالو)اسم- مذکر- زردالو- یوه ونه او دَ هغې میوه- زیږغنجی-
زیږ زنبلے:(زیږ-زنب-لے)اسم صفت- مذکر- زیږ ښبېلے- دَ بیماری له کبله یې چې رنګ زیږ تبتېدلے وی- جمع زیږ زنبېلی-
زیږسورن:(زیږ-سو-رن)اسم- مذکر- (۱)سرن- یو قسم زیږ اس- (۲)صفت(وارخطا- (افغانستان)-
زیږغلن:(زیږ-غلن)اسم صفت- وګوری: زیږبخن- (افغانستان)-

زیرغنجی:(زَیر-غَن-جی)اسم- مذکر- وګورئ زردالو-

زیرغووے:(زیر-غوم-وے)اسم صفت- مذکر- منافق- ریاکار- بدنیته- بدغونے- جمع زیرغووی-

زیرک:(زَیه-رِک)اسم صفت- چې رنګ ئې زیړ وی- دَ زیړی بیمار- زیړو-

زیرکه:(زیه-رِکه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)زیړ رنګ لرونکې یو قسم مرغې- زیرکه- (۲- صفت)دَ زیرک مؤنث-

زیرلرګے:(زَیِر-لَر-ګے)اسم- واحد- مذکر- یوه زیړ رنګې وَنه او دَ هغې میوه چې توري توري دانې نیسی او حکیمان ئې په دارو کښې ېکاروی-

زیرن:(زَیه-رِن)اسم- مذکر- زیړ اس- سفید اس- (افغانستان)-

زیرو:(زَیه-رُو)اسم صفت- مذکر- دَ زیړی بیمار- زیرک- زیړبوړک-

زیروالے:(زیر-والے)اسم- مذکر- زیړتوب- زړتیا-

زیروبے:(زَیه-رِو-بے)اسم صفت- زیړبخن- ژیړبخون- ژروزمه- ژرویره- زیړوالی ته مائیل-

زیرول:(زَیه-رَه-وَل)مصدر متعدی- (۱)زیړ رنګ ورکول- ژیړول- (۲)خړول- شرمول- شرمنده کول-

زیرون:(زَیه-رَه-وَن)حاصل مصدر- وګورئ زیړول-

زیرونکے:(زَیه-رَه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زیړرنکي- مؤنث زیړونکې- وګورئ زیړول-

زیرونګ:(زَیه-رَه-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ زیړول-

زیرونه:(زَیه-رَه-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ زیړول-

زیره:(زیه-رَه)اسم- واحد- مؤنث- کنګل- ښکنځل- کنځا- ریاړه- بکنځا- جمع زیړې-

زیره تبه:(زَیه-رَه-تَه-به)اسم صفت (مرکب)- دَ تبې یو قسم-

زیره سهوره:(زَیه-رَه-سَهو-رَه)اسم- واحد- مؤنث- ستغې سپورې- بدرده- بدې ردې- بده خله خوزونه- کنځل منځل- سپک رده- جمع زیړې سپورې-

زیرېدل:(زَیه-رې-دَل)مصدر- (۱)ژیړېدل- زیړ رنګ جوړېدل- (۲)خړېدل- شرمېدل- شرمنده کېدل- (۳)وارخطا کېدل-

زیرېدن:(زَیه-رې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ زیړېدل-

زیرېدنګ:(زَیه-رې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ زیړېدل-

زیرېدنه:(زَیه-رې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ زیړېدل-

زیرېدونکے:(زَیه-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زیړېدونکي- مؤنث زیړېدونکې- وګورئ زیړېدل-

زیرېدهٔ:(زَیه-رې-دَهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ زیړېدل-

زیرے:(زَیه-رے)اسم- واحد- مذکر- دَ زیړی بیماری- ژړے- هغه بیماری چې رنګ پکښې زیړ شی- یرقان- جمع زیړی-

زیږ:(زیږ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)خیګ- دَ جوړه ضد- (۲)کلک- سخت- غبتلے-

زیږتوب:(زیږ-توب)اسم- مذکر- خیګتوب- زیږتیا- زیږوالے- کلکوالے- سختوالے-

زیږتیا:(زیږ-تیا)اسم- مؤنث- وګورئ زیږتوب-

زیږکے:(زیږ-کے)اسم- واحد- مذکر- ششکے- شزکے- جزکے- جبشکے- سیرکے- ژیړکے- ګوګکے- جزکے- جمع زیږکی-

زیږوالے:(زیږ-والے)اسم- مذکر- خیګوالے- وګورئ زیږتوب-

زیست:(زیست)اسم- مذکر- ژوند- روزګار- (م- فارسی)-

زیست روزګار:(زیست-روز-ګار)اسم مرکب- (۱)ورکړه راکړه- لین دین- تعلق- رشته- تله راتله- مړے ژوندے- غم ښادی- (۲)کار روزګار- کار کسب- پېشه- (م- فارسی)-

زیل:(زیل)اسم- قسم- بول- رقم- جمع زیلونه- (افغانستان)-

زیلان:(زی-لان)اسم- مذکر- رحم- زیلانځ- زلیانځه- زیلانځه- چښتے- بچه دانی- بچه دانی-

زیلچه:(زیل-چه)اسم- واحد- مؤنث- زلیچه- قالینچه- غالیچه- زیلوچه- جمع زیلچې-

زیم:(زیم)اسم- واحد- مؤنث- نم- نوَ- نمژنوالے- لُندبل- رطوبت- جمع زیمونه-

زیمت توب:(زی-مت-توب)اسم- مذکر- وګورئ زیمته توب- (افغانستان)-

زیمته:(زی-مه-ته)اسم صفت- ملامت- خړ- خجل- شرمېدلے- (افغانستان)-

زیمته توب:(زی-مه-ته-توب)اسم- زیمت توب- زیمته والے- خجلت- خړ والے- خجالت- خړېښت- شرمېښت- (افغانستان)-

زیمته والے:(زی-مه-ته-والے)اسم- وګورئ زیمته توب- (افغانستان)-

زیمژن:(زَیم-ژن)اسم صفت- زیمناک- نمناک- زبېښ- مرطوب- زیم لرونکے-

زیمکښ:(زَیم-کښ)اسم صفت- نم راکښونکے- اَبهٔ جذبونکے-

زیمناک:(زَیم-ناک)اسم صفت- مذکر- وګورئ زیمژن-

زیم والے:(زَیم-والے)اسم- نمژن توب- نمژن والے-

زین:(زَین)اسم- واحد- مذکر- (۱)پالنګ- چپرکټ- ګدی- تخت- (۲)دَ اَس دَ شا هغه دَ څرمنې او لرګی نه جوړه آله چې سور پری کښېنی- جمع زینونه-

زین:(زین)اسم- زیم- نمی- لوندوالے- سیت-

زینت:(زی-نت)اسم- مذکر- ښائېست- ښکلا- ښول- (م- عربی)-

زینتی:(زی-نه-تي)اسم صفت- دَ زینت سره متعلق- وګورئ زینت-

زیندی:(زین-دی)اسم- واحد جمع- مؤنث- زندی- تېزندی- (افغانستان)-

زینک:(زی-نک)اسم- جست- جس- د یو دهات نوم-

زینګر:(زینګ-ګر)اسم- پله- جمعیت- لویه پله- (افغانستان)-

زینګر:(زینګ-ګر)اسم صفت- ګور- ګڼ- زیات-

زینګے:(زینګ-ګے)اسم- دَ غیږو په بیولو کښې یو قسم چال چې لوبغاړی خپل حریف په زنګانهٔ او اوږ بانسدی راپورته کوی او په زمکه ئې ګځلوی- (افغانستان)-

زیبول (زی-بن-ول) مصدر - اس وین کول - په اس زین ایښول.

زیبونه (زی-بن-ونه) حاصل مصدر - وګورئ زیبول.

زینه (زی-نه) اسم - واحد - مؤنث - پوړی - پاوړی - اندرپایه - دریایه - پارچنګ - ښکپځلی - درپه - (م - فارسي).

زیویت (زی-ویت) اسم - (۱) د کاریز کلکه شوې خټه - (۲) د مرز په شان د ابو یو قسم خړه مرغۍ چې د شپې هم الوځي - (افغانستان).

زیبیر (زه-بیر) اسم صفت - مذکر - زهیر - پرېشانه - خفه - دلګیر - پسخندلی - زیر.

زیبیر (زه-بیر) اسم - مذکر - وګورئ زانر.

زیبیرول (زه-بي-ر-ول) مصدر متعدي - (۱) زهیرول - پرېشانه کول - خفه کول - دلګیرول - (۲) پسخول.

زیبیرون (زه-بي-ر-ون) حاصل مصدر - وګورئ زیبیرول.

زیبیرونکی (زه-بي-ر-ون-کی) اسم فاعل - واحد - مذکر - جمع زیبیرونکي - مؤنث زیبیرونکې - وګورئ زیبیرول.

زیبیرونګ (زه-بي-ر-ونګ) حاصل مصدر - وګورئ زیبیرول.

زیبیرونه (زه-بي-ر-و-نه) حاصل مصدر - وګورئ زیبیرول.

زیبیرېدل (زه-بي-رې-دل) مصدر لازم - زهیرېدل - پرېشانه کېدل - خفه کېدل - زیرېدل - دلګیرېدل - پسخېدل.

زیبیرېدن (زه-بي-رې-دن) حاصل مصدر - وګورئ زیبیرېدل.

زیبیرېدنګ (زه-بي-رې-دنګ) حاصل مصدر - وګورئ زیبیرېدل.

زیبیرېدنه (زه-بي-رې-دنه) حاصل مصدر - وګورئ زیبیرېدل.

زیبیرېدونکی (زه-بي-رې-دون-کی) اسم فاعل - واحد - مذکر - جمع زیبیرېدونکي - مؤنث زیبیرېدونکې - وګورئ زیبیرېدل.

زیبیرېده (زه-بي-رې-ده) حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه - وګورئ زیبیرېدل.

زی (زی) د ... محفف.

زې (زې) اسم - د پښتو د حروف تهجي د اتلسم حرف د "ز" تلفظ.

زي (زي) اسم - بچی - خوئ - اولاد - زوی.

زیب (زیب) اسم - (۱) زینت - ښه ښکاره کېدنه - (۲) ښائېدنه - (م - عربي).

زیبا (زې-با) اسم صفت - (۱) ښائسته - ښکلی - پولی - (۲) د ځامک یو قسم نقش چې د ټیک او زیبا په نوم یادیږي - (افغانستان).

زیبانکه (زې-با-نه-که) اسم - د ژرندې د لاندیني پل نه راژنولې اسپنه ژرنده پرې ګرځي.

زیبلي (زی-بل-لي) اسم - جمع - مؤنث - ځلوبي - جلبي - (عامیانه قرأت).

زیتون (زې-تون) اسم - مذکر - ښون - ښوون - ښونه - خاټلی - د نباتاتي نوم د پاره وګورئ ښون.

زیر (زیر) اسم - واحد - مذکر - کسره - لاندینۍ حرکت.

زیر (زیر) متعلق فعل - ښکته - کښته - کوز - لاندې - د پورته مقابل.

زیربغلی (زیر-بغ-لی) اسم - د موسیقۍ یوه آله - (افغانستان).

زیرخانه (زیر-خا-نه) اسم - واحد - مؤنث - ته خانه - تاکاوی - زیرزمیني.

زیردست (زیر-دست) اسم صفت - د لاس لاندې - د حاکم د لاس لاندې.

زیرزمیني (زیر-ز-مي-ني) اسم - مؤنث - وګورئ زیرخانه.

زیرګا (زیر-ګا) اسم - مؤنث - ارګانه - د سحر او ماښام د پاره نګولي - ارزقه - حرځ خوراک.

زیرکی (زیر-کی) اسم - مذکر - رګپړوی - بلانه - زیرکی - زوېرکی - زګروی - د بیمار سړی فریاد او ناليښت - جمع زیرکي.

زیرمه (زیر-مه) اسم - مؤنث - ځیرمه - توښه - ذخیره - سپما - پاسره - پوسپتی - جمع زیرمې.

زیرمه خور (زیر-مه-خور) اسم صفت - واحد - مذکر - ګوند - طرفدار - سپلګر - سپندوی - (افغانستان).

زیرمي (زیر-مي) اسم - غوزی - په جبو کښې پیدا کېدونکې یو خړه توربخنه مرغۍ.

زیرنی (زې-رڼی) اسم صفت - بېکلنی - شهبی - پاتې شونی - شوماندهه له شپې نه سبا ته پاتې شوی خوراک.

زیری (زې-ری) اسم - مذکر - (۱) ښه خبر - نېک خبر - خوشخبري - (۲) غوموبکه - د لوښي یو قسم تخم چې عموماً د زیري موجب ګڼلی شي - (افغانستان) - جمع زیري.

زیری ګړی (زې-ری-ګړ-ی) اسم - زیره ګړی - زیری بانې - زیری رسونکی - جمع زیری ګړي.

زیږ (زیږ) اسم - د صفرا تکلیف - خوا ګرځېدنه - خوا بدېدنه - د بدهضمۍ له وجې له خُلې نه ترخې زیړې اُبه وتنه - (افغانستان).

زیړانکه (زې-ړان-که) اسم - مؤنث - ژړانکه - زیړکه - زردکه - زړاکه - ژیړانکه - زیړ رنګ لرونکې یوه مرغۍ - جمع زیړانکې.

زیړکه (زې-ړکه) اسم - واحد - مؤنث - یو قسم زیړ رنګ لرونکې مرغۍ - زیړانکه - زیړکه.

زیړو (زې-ړو) اسم - (۱) د زیړ اسم تصغیر - زیړ - (۲) د معشوقې لقب - (افغانستان).

زیړوب (زې-ړوب) اسم - (۱) زهوب - (۲) زیړ - صفرا - د تریخې زیړې اُبه - (افغانستان).

زیړوبی (زې-ړوبی) اسم - (۱) زیړوبی - زهوب - د زخم زیړې اُبه - (۲) زیړ (صفرا) - جمع زیړوبي.

زیړی (زې-ړی) اسم - واحد - مذکر - د بلبل په شان یو قسم مرغۍ - جمع زیړي - (افغانستان).

زیږ (زیږ) اسم - زیږېدنه - پیدا کېدنه - (افغانستان).

زیږکه (زیږ-که) اسم - مؤنث - د دوښو ستوریو نوم - (افغانستان).

زیږمه (زیږ-مه) اسم - واحد - مؤنث - زیږمه - خرمه - مرزاله.

www.pukhto.net

زېږنـتون:(زي-ږن-تون)اسم- مؤنث- هغه روغتون چې د ښځو پکښې بال بچ کيږي-

زېږنځے:(زي-ږن-ځے)اسم- واحد- مذکر- د پېدا کېدو ځاې- زېږځاې- د زېږېدو ځاې- جمع زېږنځي- (افغانستان)-

زېږندہ:(زي-ږن-ده)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وچه چينه کښې بيا اوبۀ را پېدا کېدل- (۲)چينه نانددل- (۳)اولاد- بچي-

زېږنه:(زي-ږ-نه)اسم صفت- مؤنث- زېږناکه- جبه زاره- رطوبت يا زېم لرونکې زمکه- جمع زېږنې- (افغانستان)-

زېږول:(زي-ږ-ول)مصدر متعدي- زږول- راوړل- اولاد پېدا کول- بچي پېدا کول-

زېږولے:(زي-ږ-ولے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع زېږولي- مؤنث زېږولې- وګورئ زېږول-

زېږون:(زي-ږ-ون)حاصل مصدر- وګورئ زېږول-

زېږونکے:(زي-ږ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع زېږونکي- مؤنث زېږونکې- وګورئ زېږول-

زېږونګ:(زي-ږ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ زېږول-

زېږونه:(زي-ږ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ زېږول-

زېږه:(زي-ږه)اسم- د زېږېدو وخت- ميلاد- (افغانستان)-

زېږه ور:(زي-ږه-ور)اسم صفت- مذکر- د اولاد خښتن- د نسل خاوند- د بال بچ او کورنۍ خاوند-

زېږېدل:(زي-ږي-دل)مصدر لازم- زوکېدل- پېدا کېدل-

زېږېدلے:(زي-ږي-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع زېږېدلي- مؤنث زېږېدلې- وګورئ زېږېدل-

زېږېدن:(زي-ږي-دن)حاصل مصدر- وګورئ زېږېدل-

زېږېدنګ:(زي-ږي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ زېږېدل-

زېږېدنه:(زي-ږي-دنه)حاصل مصدر- وګورئ زېږېدل-

زېږېدونکے:(زي-ږي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- زېږېدونکي- مؤنث زېږېدونکې- وګورئ زېږېدل-

زېږېدۀ:(زي-ږي-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ زېږېدل-

زېل:(زېل)اسم- د قېديانو (بنديانو) په غاړه کښې اچولے کېدونکے پړے يا زنځير- (افغانستان)-

زېلانغ:(زي-لانغ)اسم- وګورئ زېلان-

زېلوچه:(زي-لو-چه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ زېلچه- جمع زېلوچې-

زېله:(زي-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ښېله- جرړه- جړه- تيله- ختے- جرړې- ريښه- (۲)ښيلغ لرونکے بوټے-

زېلي:(زي-لي)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)ښېلې- جرړه- ريښه- (۲)ګجيران- بوټے- ښېلي- (۳)خوځېدونکے- خزنده- (۴)ښيلغونه- زېلاسګې- نونګونه- د هندوانې يا خټکي ښيلغونه-

زېم:(زېم)اسم- وګورئ زيم-

زېمن:(زي-من)اسم صفت- وګورئ زيمژن-

زېمنه:(زېم-نه)اسم- ښوروا- شوربا- شوروا-

زېور:(زي-ور)اسم- ښېول- ګاڼے- ګاڼه-

زېوه:(زي-وه)اسم- روه- رضوب- زړه-

زي:(زي)اسم- ژي- کناره- غاړه- پېڅه- څنډه- (افغانستان)-

زے:(زے)اسم- واحد- مذکر- زے- ګوړے- ښېک- شناز- غړکه-

ي (شي-رل)، ي (هې-ره-ول)، ي (بيا-ليي)، ي (تن-دېي) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۶

www.pukhto.net

ژ:(ژې)حرف- دَ پښتو دَ حروف تهجی نولسم حرف چې دَ ابجدو په حساب يې شمېر اووه (۷) دے-

ژاخ:(ژاخ)اسم- هغه کږ او کوږ ځنګل چې دَ ونو ځانګې يې سره يو بل کښې ننوتې وي- (افغانستان)-

ژاخو:(ژا-خُو)اسم صفت- واحد- مذکر- بدرنګه- بې ډوله- بد څېره- (افغانستان)-

ژاخه:(ژا-خه)اسم- واحد- مؤنث- جاخه- هغه کږې وَنې او بوټی چې څانګې او ښاخونه يې سره يو بل کښې ننوتې وي- جمع ژاخې- (افغانستان)-

ژارغالے:(ژار-غا-لے)اسم- مذکر- هغه کنستلے شوے ځائ چې دَ صحرا خلق يا کوچيان پکښې څهٔ وخت دَ پاره وَسيږي- موقتی استوګی ځائ- (افغانستان)-

ژاړ:(ژاړ)اسم- مذکر- جاړ- جلاب-

ژاړندوک:(ژا-ړن-دوک)اسم صفت- ژړندوک- ژړانده- ژړندوکے- ژړلن- ژړېدونکے-

ژاړنده:(ژا-ړن-ده)اسم- واحد- مؤنث- هغه چينه چې څاڅکے څاڅکے ترې نه راوځی- (افغانستان)-

ژاړېدل:(ژا-ړې-دل)مصدر لازم- ژړېدل- ژړا کول- دَ ژړېدل بل قرأت-

ژاړېدلے:(ژا-ړې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ژړېدلي- مؤنث ژړېدلې- وګورئ ژاړېدل-

ژاړېدنه:(ژا-ړې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ ژاړېدل-

ژاژ:(ژاژ)اسم- اېلته- چټی خبره- بې ترکه غږېدنه-

ژاله:(ژا-له)اسم- ږلی- انتهائی منجمد شوې واوره- جمع ژالې-

ژالی:(ژا-لی)اسم- واحد جمع- مؤنث- ژلی- ږلی-

ژامبيل:(ژام-بيل)اسم- واحد- مذکر- د ژامې هډوکے-

ژامنه:(ژام-نه)اسم- واحد- مؤنث- ژامه- جمع ژامنې-

ژامور:(ژا-مور)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- (۱)دَ لويو ژامنو خښتن- ګېډ غارے- ډېر خوراکه- (۲)بدرنګه- داړور- مؤنث ژاموره-

ژامه:(ژا-مه)اسم- واحد- مؤنث- برغښے- کرغښے- کنجکے- ژانوورے-

ژاندرم:(ژان-درم)اسم- ژاندارم- دَ ملک دَ نظم و نسق ساتلو دَ پاره دَ وسله دارو سورو لښکر- (م- فرانسيسي)-

ژانوو:(ژان-وو)اسم صفت- بربنګن- بربنګے- شور کونکے- وګورئ بربنګ ۲-

ژانر:(ژا-نر)اسم- واحد- مذکر- يو ادبی صنف- (م- فرانسيسي)-

ژانويه:(ژا-نو-يه)اسم- مؤنث- جنوری- د انګريزی کال اولنی مياشت-

ژانه:(ژا-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)چاپلوسی- خوشامد- خوشامنده- (۲)م دلاسه- جمع ژانې-

ژانے:(ژا-نے)اسم صفت- چاپلوسے- غړمالے- غوړه مالے- خوشامدګر-

ژاولن:(ژاو-لن)اسم صفت- مذکر- (۱)ژاوله لرونکے- دَ ژاولې ماده لرونکے- (۲)کم جرأته- بې زړهٔ-

ژاولنے:(ژاو-ل-نے)اسم- ژاولن څيز-

ژاوله:(ژاو-له)اسم- واحد- مؤنث- سيته- د کبين موم- چيونګم-

ژباړون:(ژبا-ړون)اسم صفت فاعل- مذکر- مترجم- ترجمان- ترجمه کونکے (افغانستان)-

ژباړه:(ژبا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- ترجمه- ژبه اړونه- (افغانستان)-

ژمان:(ژ-مان)اسم- ژبه- وعده- لوظ-

ژباون:(ژبا-ون)اسم صفت- مذکر- (۱)چاپلوس- خوشامدګر- دسيسه کار- (افغانستان)-

ژبپوه:(ژب-پوه)اسم صفت- مذکر- دَ ژبې عالم- دَ ژبې پوه- جمع ژبپوهان/ژبپوهاند- (افغانستان)-

ژبپوهنه:(ژب-پو-هنه)اسم- مؤنث- د ژبې علم- (افغانستان)-

ژبپوهنيز:(ژب-پو-هنيز)اسم- دَ ژبې سره اړه لرونکے- (افغانستان)-

ژب ځوکيز:(ژب-ځو-کيز)اسم- دَ ژبې دَ څوکې- دَ ژبې په څوکې مربوط- (افغانستان)-

ژب ښوونه:(ژب-ښو-ونه)اسم- مؤنث- دَ ژبې تدريس- دَ ژبې قواعد يا دَ ژبې دَ ښودنې طريقه- (افغانستان)-

ژبغراند:(ژب-غه-راند)اسم صفت- مذکر- ژبور- په خبرو نوے نوے راغلے ماشوم- ژبغراندے- (افغانستان)-

ژبغراندے:(ژب-غه-ړان-دے)اسم صفت- مذکر- وګورئ ژبغراند-

ژبن:(ژبن)اسم صفت- وعده لرونکے-

ژمنه:(ژمنه)اسم- (۱)ژبه- وعده- قول- لوظ- وعده- اقرار- (۲)مقوله- رويه-

ژبنے:(ژبه-نے)اسم صفت- مذکر- دَ ژبې سره تعلق لرونکے- جمع ژبنې-

ژبون:(ژبون)اسم- (۱)ژبه- (۲- صفت)ژبون- وارخطا- بې واره- (افغانستان)-

ژبونکے:(ژبون-کے/ژبون-کے)اسم- ژبينکے- ژبونے- (۱)دَ قميص کالر- (۲)د ښځو دَ ټټر په زرتار ګنډلې شوې غاړه- (۳)دَ پرتوګ ښتنګ-

ژبونګه:(ژبونګه)اسم- دَ ټوکی هغه ټوټه چې دَ ګرېوانهٔ دَ لاندې ګنډلې شوې وي-

ژبونے:(ژبونے/ژبو-نے)اسم- واحد- مذکر- ژبونکے- ژبينکے- دَ پرتوګ ښتنګ- جمع ژبونې-

ژبه:(ژبه)اسم- واحد- مؤنث- ژبان- زبان- دَ غوښې هغه ټوټه چې خُلهٔ کښې وي- جمع ژبې-

ژبه:(ژبه)اسم- عهد- قول- لوظ- وينا-

ژبه:(ژبه)اسم- واحد- مؤنث- لسان- نطق- تکلم- دَ خبرو اترو دَ پاره استعمالېدونکې دَ وينا ذريعه-

ژبه کی:(ژبه-کی)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)ووړکې ژبه- کمکی ژبه- ژبی- (۲)د کهرو ترشخ- (۳)د ورو يو قسم بيماری- (۴)د قلم په خلهٔ کښې

ژمر (ج-مئ-ره)، ووړکے (شل)، ټپش (نو-کيا-وه)، ژبېر (ک-ساب)، خزم (شکون)، ه(و-ړه)، ط (ډو-سې-ده)

www.pukhto.net

دَ نوک سره نښتي اله چې نوک ته رنګ ورکوي۔

ژبه لوڅے:(ژَبه-لو-څے)اسم صفت- واحد- مذکر- خبرلوڅے- جمع ژبه لوڅي۔

ژبه ناست:(ژَبه-ناست)اسم صفت- مذکر- مشهور- معروف۔

ژبه ور:(ژَبه-وَر)اسم صفت- مذکر- (۱)تېز ژبے- ژبغراند- په ژبه چالاک- (۲)دَ اوږدې ژبې خاوند- بې لحاظه۔

ژبه ورتوب:(ژَبه-وَر-توب)اسم- دَ ژبه ور جوړېدو حالت- ژبه ورتيا- ژبغراندتوب۔

ژبه ورتيا:(ژَبه-وَر-تيا)اسم- وګورئ ژبه ورتوب۔

ژبه ورکے:(ژَبه-وَر-کے)اسم صفت- ژبه ور- ژبغرانده- تېز ژبے- (افغانستان)۔

ژبه وهنه:(ژَبه-وَ-هَـنه)اسم- دَ ژبې جنګ- شکايت- ګيله- (افغانستان)۔

ژبينکے:(ژبين-کے)اسم- مذکر- وګورئ ژبونکے۔

ژبې:(ژ-بې/ژَ-بې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ ژبه کې۔

ژخه:(ژَ-خه)اسم- واحد- مؤنث- زخه- دَ چوپک زخه- زرے- جمع ژخې۔

ژدن:(ژَدن)اسم- يو بوټے چې وړې تورې دانې نيسي او په غنمو کښې راشين کېږي۔

ژدويل:(ژدو-يل)مصدر- ژوول- زبېل- ژويل- په غاښونو پستول او ميده کول- (افغانستان)۔

ژدويلے:(ژدو-يل-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ژدويلي- مؤنث ژدويلې- وګورئ ژدويل۔

ژدوينه:(ژدو-يَـنه)حاصل مصدر- وګورئ ژدويل۔

ژر:(ژر)متعلق فعل- چابک- چټک- په بيړه- په جلتي- سمدستي- په شتاب- فوراً۔

ژر تر ژره:(ژر-تَر-ژَره)اسم صفت- سمدستي- چټ پټ- سمدست- په هغه درنګ۔

ژرګلېر:(ژر-ګلېر)اسم- وګورئ ژرلک۔

ژرګه:(ژر-ګه)اسم- واحد- مؤنث- زرګه- برغنه- ځوره- بلنځه- ژره- يو قسم ازغن بوټے- دَ نباتاتي نوم دَ پاره وګورئ بلنځه- جمع ژرګې۔

ژرل:(ژ-رل)مصدر- (۱)اوړه کول- وړه کول- (۲)ملول- په ژرنده يا مېچن يا مشين اوړه کول۔

ژرلک:(ژر-لک)اسم- مذکر- ژرلک- ژرګلېر- کاهرخار- يو قسم تېره تېره ازغي لرونکے بوټے چې دَ غوږونو پټولو او دَ سوزولو دَ پاره پکاروله شي- (افغانستان)۔

ژرلکه:(ژر-لکه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ژرلک- (افغانستان)۔

ژرلے:(ژ-رَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ژرلي- مؤنث ژرلې- وګورئ ژرل۔

ژرن:(ژ-رن)حاصل مصدر- وګورئ ژرل۔

ژرندے غاښ:(ژرن-ده-نے-غاښ)اسم- وګورئ ژرندے غاښ- (افغانستان)۔

ژرنده:(ژرن-ده)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مانچه- جنترۍ- جندرۍ- دَ ناليو او نشو کارتوسو دَ درستولو او پکولو قالب- (۲)قفل- کولپ- تاله- قلف۔

ژرنده:(ژرن-ده)اسم- واحد- مؤنث- دَ اوړه کولو يو قسم مشين چې په اوبو ګرځي- جمع ژرندې۔

ژرنده کړے:(ژرن-ده-کړے)اسم صفت- واحد- مذکر- ژرنده چلونکے- دَ ژرندې چلولو والا- جمع ژرنده کړي۔

ژرندے:(ژرن-دے)اسم- دَ ماشومانو يو قسم لوبه- (افغانستان)۔

ژرندے غاښ:(ژرن-دے-غاښ)اسم- دَ ژامې اخيرنے غټ غاښ- ژرندنے غاښ- (افغانستان)۔

ژرنګ:(ژ-رنګ)حاصل مصدر- وګورئ ژرل۔

ژرنګ:(ژرنګ)اسم صوت- ژرنګا- شرنګ- شرنګا- (افغانستان)۔

ژرنګا:(ژرنګ-ګا)اسم صوت- وګورئ ژرنګ۔

ژرنګانے:(ژرنګ-ګا-نے)اسم- ګنګرو- کونګرے- شرنګاوو- دَ ماشومانو دَ لوبو يوه شرنګا کونکې آله- چرچنے- (افغانستان)۔

ژرنګول:(ژرنګ-ګ-ول)مصدر- شرنګول- دَ شرنګ اواز ايستل- (افغانستان)۔

ژرنګون:(ژرنګ-ګ-ون)حاصل مصدر- وګورئ ژرنګول۔

ژرنګون:(ژرنګ-ګون)اسم- شرنګون- شرنګا- ژرنګا۔

ژرنګونکے:(ژرنګ-ګ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ژرنګونکي- مؤنث ژرنګونکې- وګورئ ژرنګول۔

ژرنګونګ:(ژرنګ-ګ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ژرنګول۔

ژرنګونه:(ژرنګ-ګ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ ژرنګول۔

ژرنګونے:(ژرنګ-ګو-نے)اسم فاعل- دَ شرنګا اواز ايستونکے۔

ژرنګهار:(ژرنګ-ګ-هار)اسم صوت- دَ شرنګا پرله پسې اواز- شرنګهار۔

ژرنګېدل:(ژرنګ-ګې-دل)مصدر لازم- شرنګېدل- دَ شرنګ اواز ايستلے کېدل- (افغانستان)۔

ژرنګېدن:(ژرنګ-ګې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ژرنګېدل۔

ژرنګېدنګ:(ژرنګ-ګې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ژرنګېدل۔

ژرنګېدنه:(ژرنګ-ګې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ ژرنګېدل۔

ژرنګېدونکے:(ژرنګ-ګې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ژرنګېدونکي- مؤنث ژرنګېدونکې- وګورئ ژرنګېدل۔

ژرنګېدهٔ:(ژرنګ-ګې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ ژرنګېدل۔

ژرنه:(ژ-رَنه)حاصل مصدر- وګورئ ژرل۔

ژروالے:(ژر-والے)اسم- تلوار- بيړه توب۔

ژرونکے:(ژ-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ژرونکي- مؤنث ژرونکې- وګورئ ژرل۔

ژره:(ژَره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ژرګه۔

ې (ښي-رل)، ئ (ښي-ره-ول)، ی (پيا-لی)، ے (تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www pukhto net

ژړی:(ژړ-ری)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)دَ اوبو تنتی ته نژدې خکه توبکی- (۲)ژړکه-

ژړ:(ژړ)اسم صفت- (۱)زیړ- (۲)اسم- یو قسم زیړ رنګ لرونکے لوښے- (افغانستان)-

ژړا:(ژ-ړا)اسم- واحد- مؤنث- ژړېدنه- اوښکي تویونه- جمع ژړاګانې-

ژړا انګولا:(ژ-ړا-اَنګ-ګو-لا)اسم (مرکب)- ویر- هاې کوکار- ژړا فریاد-

ژړا ژړل:(ژ-ړا-ژ-ړل)فعل- دَ خپلو غمونو او کړاونو ذکر کول- ګیلې مانې کول- خپلې ستړې قیصې بیانول- غمونه بیانول-

ژړا فریاد:(ژ-ړا-فر-یاد)اسم- مرکب- (۱)ژړاانګولا- پهٔ ورو ورو ژړنه- ځې کوکار- (۲)خپله بدحالی او سختنه بیانونه- عریضه کونه-

ژړان:(ژ-ړان)اسم صفت- مذکر- ژړاند- ژړوندکے- ژړېدونکے-

ژړاند:(ژ-ړاند)اسم صفت- وګورئ ژړان-

ژړانده:(ژ-ړان-ده)اسم- مؤنث- سانده- د محرم میاشت- د عاشورې میاشت- جمع ژړاندې-

ژړاندې ورځې:(ژ-ړان-دې-ور-ځې)اسم مرکب- عاشوره- دَ محرم د میاشتې وړومبۍ ورځې-

ژړانکه:(ژ-ړا-نه-که)اسم- واحد- مؤنث- زیرکه- زیړاکه- ژړانه- دمقانکه- یو قسم بانسته مرغۍ- جمع ژړانکې-

ژړانوک:(ژ-ړا-نوک)اسم صفت- ژړندوک- ډېر ژړېدونکے ماشوم- (افغانستان)-

ژړانه:(ژ-ړا-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ژړانکه- جمع ژړانې- (افغانستان)-

ژړبخون:(ژړ-بخون)اسم صفت- مذکر- دَ زیړبخن- زیړرنګه- زیړ غندې- (افغانستان)-

ژړدکه:(ژړ-د-که)اسم- واحد- مؤنث- کاکره- جمع ژړدکې- نباتاتی نوم ډاکس کېروټه DAUCUS DAROTA-

ژړرنګے:(ژړ-رنګ-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- زیړرنګه- ژړ رنګه- زیړ رنګ لرونکے- (افغانستان)-

ژړغو:(ژړ-غو)اسم صفت- مذکر- ژړوندوک- ژړانوک- ډېر ژړېدونکے ماشوم- (افغانستان)-

ژړغوری:(ژړ-غو-ری)اسم- دَ ګړو غوړی- د مېږو غوړی- (افغانستان)-

ژړغونکے:(ژ-ړ-غون-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- ژړغونے- ژړا ته تیار- هغه ګوک چې پهٔ سترګو او خله ې د ژړا علامې راښکاره شي-

ژړغونے:(ژ-ړ-غو-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ژړغونے- ژړا ته مایل- ژړغونکے- (۲)وارخطا- زیړ رنګے-

ژړل:(ژ-ړل)مصدر- لهٔ سترګو اوښکې تویول-

ژړلے:(ژ-ړلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ژړلي- مؤنث ژړلې- وګورئ ژړل-

ژړند:(ژ-ړند)اسم صفت- مذکر- ژړا ته نژدې- ژړندویه- چې اوښکې يې لا د سترګو نه نهٔ وی څڅېدلې-

ژړندوک:(ژ-رن-دوک)اسم صفت- مذکر- ژړان- ژړاند- ژړندوکے- ژړند- ژړندوے-

ژړنده:(ژ-ړن-ده)اسم- مؤنث- ژړانده- د عاشورې میاشت- (افغانستان)-

ژړوالے:(ژړ-والے)اسم- زیړوالے- ژیړوالے- (افغانستان)-

ژړوزمه:(ژړ-وز-مه)اسم صفت- واحد- مذکر- ژړ غندې- ژړبخن- ژړ ته مایل-

ژړول:(ژ-ړ-ول)مصدر متعدی- پهٔ ژړا راوستل- پهٔ ژړا کول-

ژړولے:(ژ-ړ-ولے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ژړولي- مؤنث ژړولې- وګورئ ژړول-

ژړون:(ژ-ړ-ون)حاصل مصدر- وګورئ ژړول-

ژړونکے:(ژ-ړ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ژړونکي- مؤنث ژړونکې- وګورئ ژړول-

ژړونګ:(ژ-ړ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ژړول-

ژړونه:(ژ-ړ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ ژړول-

ژړونے:(ژ-ړو-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- ژړا کونکے- ژړاندو-

ژړه غونے:(ژ-ړه-غو-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ ژړغونے-

ژړېدل:(ژ-ړې-دل)مصدر لازم- (۱)ژړل- پهٔ ژړا کېدل- پهٔ ژړا راتلل- (۲)زیړ رنګ اخستل- (۳)شرمېدل- (۴)مړاوے کېدل- جینګېدل-

ژړېدلے:(ژ-ړې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ژړېدلي- مؤنث ژړېدلې- وګورئ ژړېدل-

ژړېدن:(ژ-ړې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ژړېدل-

ژړېدنګ:(ژ-ړې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ژړېدل-

ژړېدنه:(ژ-ړې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ ژړېدل-

ژړېدونکے:(ژ-ړې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ژړېدونکي- مؤنث ژړېدونکې- وګورئ ژړېدل-

ژړېدهٔ:(ژ-ړې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ ژړېدل-

ژړی:(ژ-ړی)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)وګورئ پېریان اُبه- (۲)وګورئ خری-

ژړی تبه:(ژ-ړی-تبه)اسم- مؤنث- سړه لړې تبه- دَ ملیریا تبه- (افغانستان)-

ژړی مار:(ژ-ړی-مار)اسم صفت- واحد- مذکر- ژړندونکے- چې دَ تکلیف نه لاسه ژاړی-

ژړے:(ژ-ړے)اسم- مذکر- زیړے- دَ زیړی مرض- یرقان- (افغانستان)-

ژژ:(ژژ)اسم- غبه غبه شکه- هغه شګلنه رمکه چې د شګو نرې ې غبې غبې وی-

ژژکے:(ژژ-کے)اسم- واحد- مذکر- شیژکے- شیژغے- ششکے- جیزکے-

www.pukhto.net

حیرکے- جوکے- حشکے- جمع رزکی-

ژست:(ژست)اسم- اشاره- احساساتو څرګندولو د پاره د بدن یا د برخې حرخونه- (افغانستان)-

ژغ:(ژغ)اسم- واحد- مذکر- (۱)جغ- زغ- یغ- هغه اله چې د یوی کولو په وخت د غوایانو څټ کښې اچولے شی او یوې وریووری تړلے شی- (۲)د جتو د یوم یوه پره-

ژغ:(ژغ)اسم صوت- اواز- شور- چغه- وغ- غږ-

ژغا:(ژه-غا)اسم صوت- چغا- غرنجا- چغاچغ- د بوټانو او څپلو چغارے-

ژغال:(ژ-غال)اسم- زژ- کاڼی- کُټ کاڼی- ټوټ کاڼی- نری کاڼی- باجری-

ژغڅی:(ژغ-څ‌ی)اسم- واحد جمع- مؤنث- د نشتر د ومې پاتې چې د ستنې عددې نری وی-

ژغ ژغری:(ژغ-ژغ-ری)اسم- واحد جمع- مؤنث- نری او لږه ولی-

ژغرل:(ژغه-رل)مصدر- ژغورل- بچول- بچ کول- خلاصول-

ژغرلے:(ژغه-رلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ژغرلی- مؤنث ژغرلې- وګورئ ژغرل-

ژغروی:(ژغر-وی)اسم- ژغورنه- ساتنه-

ژغروې:(ژغه-رو-ې)اسم صفت- مذکر- ساتونکے- ژغورونکے- حفاظت کونکے- ساتندوی- ژغورے- جمع ژغروی-

ژغری:(ژغه-ری)اسم- وګورئ ژغری-

ژغری:(ژغه-ری)اسم- مؤنث- ژغری- مکر- عمل- وتنه- پروا- فرق- بیلون-

ژغر:(ژ-غر)اسم- واحد- مذکر- جوغر- نږز- وزه کنده- ژوغر-

ژغرل:(ژغه-رل)مصدر- ژغورل- ساتل-

ژغرے:(ژغه-رے)اسم- واحد- مذکر- د جوارو په فصل کښې زرغنېدونکے یو قسم بوټے- جمع ژغری- (افغانستان)-

ژغژغه:(ژغ-ژه-غه)اسم- (۱)وګورئ ژغژغے ۱- (۲)وګورئ ژغژغے نمبر ۲-

ژغژغے:(ژغ-ژه-غے)اسم- واحد- مذکر- د غږ بوږ- جمع ژغژغی-

ژغژغے:(ژغ-ژه-غے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ژغژغه- ګنګرو- جرس- (۲)یو قسم واښه- جمع ژغژغی-

ژغل:(ژ-غل)اسم- (۱)په لرګیو جوړه شوې جاله- (۲)بجری- باجری- (۳)شکه-

ژغدکی:(ژغن-ده-کی)اسم- د ټوپک هغه حصه چې په هغې باندې نښه نیسی- د ټوپک نښه- (افغانستان)-

ژغند:(ژ-غند)اسم- (۱)ژوغند- په ونه او لرګی کښې د تبر په واسطه شوے ژغر- (۲)په بدن کښې ژور زخم-

ژغندکے:(ژ-غند-کے)اسم تصغیر- د ژغند مصغر شکل-

ژغنده:(ژ-غن-ده)اسم- واحد- مؤنث- ژور لښتے- ژوره وله- (افغانستان)-

ژغندے:(ژ-غن-دے)اسم- واحد- مذکر- زغ مووے- ژوغندے- هغه لرګے چې په جغ کښې د غوایانو د سر د وتلو مخه نیسی-

ژغور:(ژغور)اسم- (۱)ژغورنه- نجات- ساتنه- (۲)سوره- غار- سورے-

ژغورځای:(ژغور-ځای)اسم مرکب- پناه ګاه- پټنځه- د ژغورلې ځای- (افغانستان)-

ژغورل:(ژغو-رل)مصدر متعدی- خلاصول- ساتل- بچ کول-

ژغورن:(ژغو-رن)حاصل مصدر- وګورئ ژغورل-

ژغورن:ژغورن(ژغو-رن)اسم صفت- مذکر- خلاصے ورکونکے- نجات ورکونکے- ساتندوے-

ژغورمګ:(ژغو-رمګ)حاصل مصدر- وګورئ ژغورن-

ژغورنه:(ژغو-رنه)حاصل مصدر- وګورئ ژغورل-

ژغورونکے:(ژغو-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ژغورونکی- مؤنث ژغورونکې- وګورئ ژغو[illegible]-

ژغهار:(ژه-غه-هار)اسم صوت- د سوی پېز[illegible] د چغ چغ اواز- چغار-

ژغونبے:(ژ-غون-بے)اسم- واحد- مذکر- جغونبے- جغمبے- ژغنبے-

ژغے:(ژه-غے)اسم- واحد- مذکر- د جنګی زخمیانو د وړولو د پاره بکاریدونکے زمبیل- ستریچر- جمع ژغی ژغیان-

ژک جوړ:(ژک-جوړ)اسم ظرف فعل- بالکل جوړ- بېخی جوړ-

ژک ژوندے:(ژک-ژون-دے)متعلق فعل- بالکل ژوندے- بېخی ژوندے- د ژک کلمه د بېخی د پاره بکارولے شی- لکه ژک جوړ-

ژکه:(ژکه)اسم- مؤنث- نکاح شوی ښځه-

ژلکرکے:(ژه-لګ-رکے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ژلکرے-

ژلکرے:(ژه-لګ-رے)اسم- واحد- مذکر- ژلکرکے- ژلغرے- وریبورے- ولکرے- نری نری ونی- جمع ژلکری- (افغانستان)-

ژلیا عره(ژه-لیا-عره)اسم- واحد جمع- مؤنث- نری ولی-

ژلیری:(ژلی-ری)اسم- واحد جمع- مؤنث- ګنګل- مره- (افغانستان)-

ژلی:(ژه-لی)اسم- واحد جمع- مؤنث- وږی- ولی- (افغانستان)-

ژمکنے:(ژم-کنے)اسم صفت متعلق فعل- ژمنے- ژمکوره- د ژمی سره متعلق-

ژمکورے:(ژم-کو-رے)اسم- ژمنے ځای- د ژمی د استوګې ځای-

ژمنځ:(ژمنځ)اسم- واحد- مؤنث- ومنځ- منوز- ومنځه- جمع ژمنځې-

ژمنه:(ژ-منه)اسم- مؤنث- (۱)ژمنه- نیته- وخت- (۲)قول- ژبه- لوظ- جمع ژمنې-

ژمنے:(ژ-منے)اسم صفت- ژمکنے- د ژمی سره متعلق-

ژمیا:(ژم-یا)اسم- واحد- مؤنث- سپین ګل لرونکے یو قسم تریخ واښه- (افغانستان)-

ژمے:(ژمے)اسم- واحد- مذکر- د یخنی موسم- د شمسی کال ځلورم فصل- جمع ژمی-

ژنځره:(ژن-ځره)اسم- مؤنث- (۱)ساڼچه- (۲)تالے- کولف- قفل- کولپ-

ژندری:(ژند-ری)اسم- مؤنث- سیم کش- د زرګرانو د کار یوه آله- (افغانستان)-

ژده:(ژ-ده)اسم- واحد- مؤنث- ژوغمه- سرکښې لار-

ی (ښي-رل) ی(صي-ره-ول)، ی (پيا لي)، ے(تن-ده-ے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

ژنګ:(ژُنګ)اسم صوت- شرنګ- شرنګ- شرنګ شرونګ-

ژنګ:(ژِنګ)اسم صفت- مذکر- جینګړ- شیټ- جینګ- شیڼه- مړاوے- (افغانستان)-

ژنګوره:(ژُنګ-ګو-ره)اسم- مؤنث- ژمګے- ژمکورے- (افغانستان)-

ژنګوری:(ژُنګ-ګو-ری)اسم- واحد جمع- مؤنث- یو قسم پسول- یو قسم کالے-

ژنګورے:(ژُنګ-ګو-رے)اسم- مذکر- ګونګورے- پنډورے- والبکے- دَ انګورو ګونګے- دَ انګورو خوشه- دَ انګورو ګاټے- دَ انګورو وښکالے- دَ انګورو شینګه- (افغانستان)-

ژنګورے:(ژُنګ-ګو-رے)اسم- ژمکورے- دَ ژمی دَ استوګې ځاے-

ژنل:(ژ-نل/ژُنل)مصدر- شاړل- زګول- مېل-

ژنلے:(ژَنـ-ـلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ژنلي- مؤنث ژنلې- وګورئ ژنل-

ژننه:(ژ-نـ-ـنه)حاصل مصدر- وګورئ ژنل-

ژنکے:(ژَن-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- کلموټے- زنکے- نوے نوے بلوغ ته رسېدلے هلک- جمع ژنکي-

ژنی توب:(ژَ-نی-توب)اسم- خلمیتوب- ځواني- ځوان توب-

ژنی:(ژَ-ني)اسم- واحد جمع- مؤنث- دَ پسۀ لۀ کولمې جوړ شوے تار چې دَ رباب یا لیندۍ د پاره پکارولے شي-

ژنے:(ژَ-نے)اسم صفت- ځوان- خلمے- زنے- نوے رسېدلے- ژنکے- جمع ژني-

ژو:(ژُو)اسم- پوټل- مخبوکے- خوکل- پوسه- کیچه- کڅه- تعاله-

ژواک:(ژ-واک)اسم- ژوندون- ژوند-

ژوبل:(ژُو-بَل)اسم صفت- مذکر- زخمي- ټپي- خټ پټ- وهلے ټکلے- مجروح- عخ عخ-

ژوبل توب:(ژُو-بَل-توب)اسم- مذکر- مجروح والے- زخمی توب- غڅوالے- ژوبل والے- ژوبلتیا-

ژوبلتیا:(ژُو-بَل-تیا)اسم- مؤنث- وګورئ ژوبل والے-

ژوبلل:(ژُو-بـ-لل)مصدر متعدی- ژوبلول- زخمی کول-

ژوبل والے:(ژُو-بَل-وا-لے)اسم- وګورئ ژوبل توب-

ژوبلور:(ژُو-بَـ-ل-ور)اسم صفت- مذکر- (۱)زمریال- جګړن- (۲)نوکوڼه- لښکری- (افغانستان)-

ژوبلورے:(ژُو-بـ-ـلـ-ـو-رے)اسم- واحد- مذکر- (۱)فوځ- عسکر- (۲)سربندوکے- سرټېرے- (افغانستان)-

ژوبلول:(ژُو-بَـ-ل-ول)مصدر متعدی- (۱)زخمی کول- خوږول- ژوبل کول- (۲)خټ پټ کول- ځخ پخ کول-

ژوبلون:(ژُو-بَـ-ل-ون)حاصل مصدر- وګورئ ژوبلول-

ژوبلونکے:(ژُو-بـ-ل-وون-کے)حاصل مصدر- وګورئ ژوبلول-

ژوبلونګ:(ژُو-بَـ-ل-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ژوبلول-

ژوبلونه:(ژُو-بَـ-ل-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ژوبلول-

ژوبله:(ژُو-بـ-ـله)اسم- واحد- مؤنث- (۱)زخمي کېدنه- زخمي توب- ټپي توب- (۲)جګړه- جنګ-

ژوبله:(ژُو-بَـ-له)اسم- واحد- مؤنث- د ونې هغه ښاخکه چې لۀ پاڼو نه پکه وی- بېره ښاخکه- (افغانستان)-

ژوبلېدل:(ژُو-بَـ-لې-دَل)مصدر لازم- زخمی کېدل- خوږېدل- ټپی کېدل- غڅېدل-

ژوبلېدن:(ژُو-بَـ-لې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ ژوبلېدل-

ژوبلېدنګ:(ژُو-بَـ-لې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ ژوبلېدل-

ژوبلېدنه:(ژُو-بَـ-لې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ژوبلېدل-

ژوبلېدونکے:(ژُو-بَـ-لې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ژوبلېدونکي- مؤنث ژوبلېدونکې- وګورئ ژوبلېدل-

ژوبلېدۀ:(ژُو-بـ-لې-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحدْ غائب صیغه- وګورئ ژوبلېدل-

ژوبنه:(ژُو-بَـ-نه)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم کنډ چې پۀ تیره باندې کېښودے شي او پۀ بله تیره ووهلے شي نو چاودو سره اواز پېدا کوی- (افغانستان)-

ژوسن:(ژُو-سِن/ژُو-سِن)اسم- مذکر- دَ حیواناتو ننداړتون- ژُو- چړیاګر- (افغانستان)-

ژور:(ژُ-ور)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- د رغی ضد- عمیق- پونګے- مؤنث ژوره-

ژورتوب:(ژُ-ور-توب)اسم- مذکر- ژوروالے- ژورتیا- عمیق والے-

ژورتیا:(ژُ-ور-تیا)اسم- مؤنث- وګورئ ژورتوب-

ژورغاسے:(ژُ-ور-غا-سے)اسم- مذکر- دَ لس تویره- د اَس دَ اَربشو لوښے- (افغانستان)-

ژورغالے:(ژُ-ور-غا-لے)اسم- واحد- مذکر- کندغالے- کورے- جرغالے- کندغولے- غورومبے- د رنې یا بوټی کېر چاپېره کنستې شوې کنده چې اُبۀ پکښې ودرېږي- وروکې- پوعله- جمع ژورغالي-

ژورلینکے:(ژُ-ور-لینګ-کے)اسم- دَ زنګانۀ دَ سترګې لاندې ژور ځاے- دَ توښکی ژور ځاے- (افغانستان)-

ژورمیچ:(ژُ-ور-میچ)اسم- د ژوروالي دَ اندازه کولو آله- (افغانستان)-

ژوروالے:(ژُ-ور-وا-لے)اسم- وګورئ ژورتوب-

ژورول:(ژُ-وَر-ول)مصدر متعدی- پورګبے کول- کنده کول- ژغورول- ژوغورول-

ژورون:(ژُ-وَر-ون)حاصل مصدر- وګورئ ژورول-

ژورونکے:(ژُ-وَر-وون-کے)اسم فاعل- جمع ژورونکي- مؤنث ژورونکې- وګورئ ژورول-

ژوروڼګ:(ژُ-وَر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ژورول-

زبر (ځ-بـ-ـر-ه)، زورکے (ځل)، پېښ (نو-کا-ره) زمر (کـ-ـباب)، جزم (شکون) ة (ر ېږه) ۀ (بو-سي-دۀ)

ژوروته:(ژ-و-ر-و-ته)حاصل مصدر- وګورئ ژوړول-

ژوره:(ژ-و-ر-ه)اسم صفت- واحد- مؤنث- د ژور مؤنث- پوغله- بنکته ځمکه- لوېدلې او کنده ځمکه- جمع ژورې-

ژوره:(ژو-ره)اسم- واحد- مؤنث- چرګه- ژرېي- ژروېي- زوله- يو قسم چينجے چې په اَبو کښې وَسي او د انسان يا حيوان په ګرمن چې خله ولګوي نو وينه ترې راکاږي او دغه عمل يې د خارښ علاج هم ګڼلے شي-

ژورېدل:(ژ-و-ر-ې-دل)مصدر لازم- ژغورېدل- عميقېدل- کنده کېدل-

ژورېدن:(ژ-و-ر-ې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ژورېدل-

ژورېدنګ:(ژ-و-ر-ې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ژورېدل-

ژورېدنه:(ژ-و-ر-ې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ ژورېدل-

ژورېدونکے:(ژ-و-ر-ې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر-جمع ژورېدونکي- مؤنث ژورېدونکې- وګورئ ژورېدل-

ژورېدهٔ:(ژ-و-ر-ې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ ژورېدل-

ژوغنه:(ژوغ-نه)اسم- واحد- مؤنث- مرکښې لار- ژنده-

ژول:(ژ-ول)مصدر- (۱)ژوندے پاتې کېدل- ژوندے وسېدل- (۲)وګورئ ژوړول-

ژوليده:(ژو-لي-ده)اسم صفت- خفه- پرېشان- ګډوډ- خوره- خپورلے- (فارسي)-

ژوليده تر:(ژو-لي-ده-تر)اسم صفت- خفه پرېشان- (فارسي)-

ژوند:(ژوند)اسم- د مرګ ضد- حيات- ژوندون-

ژوندجګړه:(ژوند-جګ-ړه)اسم مرکب- د بقا جنګ- (افغانستان)-

ژوندون:(ژون-دون)اسم- ژوند- حيات-

ژوندي مرئ:(ژون-دي-مرئ)اسم- واحدجمع- مؤنث- يو قسم بنوي مرئ- (افغانستان)-

ژوندے:(ژون-دے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ساه لرونکے- د مړي ضد- (۲)ثابت- مؤنث ژوندۍ- جمع ژوندي-

ژوندے رشک:(ژون-دے-رشک)اسم- ژوندے دربه- لوند دربه- د درب يو قسم جلدي ورجنه او ساري ناروغي- (افغانستان)-

ژوندے ژرانده:(ژون-دے-ژ-ران-ده)اسم صفت- ژوندے جاړ- ژاړ ژوندے-

ژوول:(ژو-ول)مصدر متعدي- ژويل- زوول- ژويل- ژېيل- په غاښونو پستول او رس وېستل- چوېل- ژول-

ژوولے:(ژو-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ژوولي- مؤنث ژوولې- وګورئ ژوول-

ژوون:(ژو-ون)حاصل مصدر- وګورئ ژوول-

ژوونکے:(ژو-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ژوونکي- مؤنث ژوونکې- وګورئ ژوول-

ژوونګ:(ژو-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ژوول-

ژوونه:(ژو-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ژوول-

ژوونے:(ژو-و-نے)اسم- (۱)چيونګم- (افغانستان)- (۲)د اسم مفعول په معنی کښې- وګورئ ژوول-

ژوه:(ژ-وه)ندائيه کلمه- ژوندے وسې-

ژويل:(ژو-يل)مصدر متعدي- وګورئ ژوول-

ژويلے:(ژو-يل-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ژويلي- مؤنث ژويلې- وګورئ ژويل-

ژوين:(ژو-ين)حاصل مصدر- وګورئ ژويل-

ژوينه:(ژو-ي-نه)حاصل مصدر- وګورئ ژويل-

ژوے:(ژ-وے)اسم- (۱)ژوندے- د ساه خاوند- ژوندی سړے- د سپلوې خښتن- (۲)حيوان- جمع ژوي-

ژيره:(ژي-ره)اسم- مؤنث- يو قسم بوټے چې بېخ يې لکه د کچالو او رنګ يې سور وي-

ژې:(ژې)د پښتو د حروف تهجي د نولسم (۱۹) حرف "ژ" تلفظ-

ژېړوبے:(ژې-ړو-بے)اسم- واحد- مذکر- سرې بخنې پاڼې لرونکے يو قسم بوټے- جمع ژېړوبي-

ژېړ:(ژېړ)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- زېړ- (۱)زېړ رنګ لرونکے- (۲)زېړ لرونکے دمات- مؤنث ژېړه- (افغانستان)-

ژېړانکه:(ژې-ړان-که)اسم- زېړکه- زېړاکه- ژړانکه- زېړې- دمقانکه- ژېړانه- يو قسم زېړ رنګ لرونکې مرغۍ- جمع ژېړانکې-

ژېړانه:(ژې-ړا-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ژېړانکه-

ژېړبخن:(ژېړ-بخن)اسم صفت- مذکر- زېړبخن- زېړورمه- زېړ رنګ ته مائل-

ژېړمرغۍ:(ژېړ-مر-غۍ)اسم- زېړ سر لرونکې يو قسم مرغۍ-

ژېړکخ:(ژېړ-کخ)اسم- مذکر- يو قسم کاڼے چې مردکې ترې جوړېږي- (افغانستان)-

ژېړګلے:(ژېړ-ګ-لے)اسم- واحد- مذکر- لاررے- يو قسم زېړ رنګ لرونکے بوټے- جمع ژېړګلي-

ژېړوالے:(ژېړ-وا-لے)اسم- زېړوالے- زېړتوب- زېړوالے- (افغانستان)-

ژېړول:(ژې-ړول)مصدر- زېړول- (۱)زېړول- زېړ رنګ ورکول- (۲)شرمول- شرمنده کول- (افغانستان)-

ژېړون:(ژې-ړون)حاصل مصدر- وګورئ ژېړول-

ژېړونکے:(ژې-ړون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ژېړونکي- مؤنث ژېړونکې- وګورئ ژېړول-

ژېړونګ:(ژې-ړونګ)حاصل مصدر- وګورئ ژېړول-

ژېړونه:(ژې-ړو-نه)حاصل مصدر- وګورئ ژېړول-

ژېړين:(ژې-ړين)اسم صفت- د زېړو سره متعلق- د زېړو- (افغانستان)-

ژېړېدل:(ژې-ړې-دل)مصدر لازم- زېړېدل- (۱)ژېړېدل- زېړ رنګ اخستل- (۲)شرمنده کېدل- (۳)مراوے کېدل- (افغانستان)-

کـ (کـي-رل)، ګـ (ګـي-ره-ول)، ګـ (ګـيا-لي)، ـے (تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

ژېړېدل (ژې-ړې-دل) حاصل مصدر- وګوری ژېړېدل

ژېړېدګ (ژې-ړې-دګ) حاصل مصدر- وګوری ژېړېدل-

ژېړېدنه (ژې-ړې-دنه) حاصل مصدر- وګوری ژېړېدل-

ژېړېدونکے (ژې-ړې-دون-کے) اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ژېړېدونکی- مؤنث ژېړېدونکې- وګوری ژېړېدل-

ژېړېده (ژې-ړې-ده) حاصل مصدر- د ماضی مطلق واحد غائب صیغه- وګوری ژېړېدل-

ژېړی (ژې-ړی) اسم- واحد جمع- مؤنث- ژېړانګه- زیړکه-

ژېړے (ژې-ړے) اسم- واحد- مذکر- د زیړی مرض- یرقان- ژېړے- (افغانستان)-

ژی (ژی) اسم- واحد جمع- مؤنث- څنډه- غاړه- کناره- پیڅه-

ژے (ژے) اسم- واحد- مذکر- د اُبو مشک- جمع ژیان- (افغانستان)-

زبر (ځ-بخ-ره) زورکے (شل)، پیش (تو-کاره) زیر (کـ-ساب)، جزم (سکون) ۀ (ز-یه) ۀ (یو-سپی-ده)

www.pukhto.net

ړ:(ړي)حرف- د پښتو د حروف تهجی شلم (۲۰) حرف چي د ابجدو په حساب ئې شمېر اووه ۷ دی-

ړبن:(ړ-بن)اسم صفت- واحد- مذکر- وعده کونکے- ژمنه لرونکے- (افغانستان)-

ړدل:(ړدل)مصدر- اېښول- کېښول- کېښودل-

ړدن:(ړدن)حاصل مصدر- وګورئ ړدل-

ړدونکے:(ړدون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ړدونکي- مؤنث ړدونکې- وګورئ ړدل-

ړرینګری:(ړ-رینګ-ګړی)اسم- جمع- مذکر- ړله ګرکی- ګګرکی- ګریګرکی- د واورې او ږلی واړه واړه او نرم ګاټي- (افغانستان)-

ړړی:(ړ-ړی)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ ژړی-

ړړی:(ړ-ړی)اسم- واحد جمع- مؤنث- ږلی- (افغانستان)-

ړړ:(ړړ)اسم- مذکر- د سکرو ګاړه (توه) او خاکه-

ړغ:(ړغ)اسم- د غږ بل قرأت- (افغانستان)-

ړغانځه:(ړغان-ځه)اسم- واحد- مؤنث- ورګه- وروه- کیله- وروبې- جمع ړغانځې-

ړغبندے:(ړغ-بن-دے)اسم- جوغندے- ژغندے- ژوغندے- هغه کلک او لنډ لرګے چي د جغ په لاندې باندی سوریو کښې د غوایانو اېسارونو د پاره ورکولے کېږی- (افغانستان)-

ړغوتیا:(ړ-غو-تیا)اسم- (۱)صبنت- (۲)ساتنه- زیرمه- (افغانستان)-

ړغرل:(ړغ-رل)مصدر- د زړه په غوږو اورېدل- د زړه له کومې اورېدل-

ړغرلے:(ړغ-ر-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ړغرلی- مؤنث ړغرلې- وګورئ ړغرل-

ړغرنه:(ړغ-ر-نه)حاصل مصدر- وګورئ ړغرل-

ړغورل:(ړغ-ر-ول)مصدر متعدی- ساتل- ژغورل- حفاظت کول- خوندی کول- ساتل-

ړغورلے:(ړغ-ر-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ړغورلی- مؤنث ړغورلې- وګورئ ړغورل-

ړغورن:(ړغ-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ ړغورل-

ړغورنګ:(ړغ-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ړغورل-

ړغورنه:(ړغ-ر-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ړغورل-

ړغورونکے:(ړغ-ر-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ړغورونکی- مؤنث ړغورونکې- وګورئ ړغورل-

ړغری:(ړغ-ري)اسم- (۱)حفاظت- ساتنه- (۲)منښت- قبولی- تسولی- (افغانستان)-

ړغرے:(ړغ-رے)اسم- مذکر- د غاښونو چونه- ژغره- پته- ښکره- (افغانستان)-

ړغړغړے:(ړغ-ړ-غړے)اسم- ړله ګرکے- ورینګرے- (افغانستان)-

ړغوغه:(ړغ-ړ-غه)اسم- واحد- مؤنث- ړغوغے- رمکوله- کونګړے- کېکړے- (افغانستان)-

ړغوغی:(ړغ-ړ-غی)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)د غنمو د دانې پوښ- (۲)د غر پانه- (۳)ګریګرکے- ورینګرے- (افغانستان)-

ړغوغے:(ړغ-ړ-غے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ړغوغه-

ړغل:(ړغل)اسم- واحد- مذکر- د شګو او کاڼیو جمله- د کښکل جغله یا ټوټه- د کاڼیو او تیږو ژغل-

ړغن:(ړ-غن)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- (۱)په بلا اخته- (۲)ړغ لرونکے-

ړغ ړوړغ:(ړغ-و-ړوړغ)اسم صوت- غالمغال- شور ماشور-

ړغول:(ړ-غ-ول)مصدر متعدی- (۱)غږول- وهل (لکه رباب او نور د موسیقۍ الات)- (۲)په خبرو راوستل- له خلې خبرې راایستل- ګوېول-

ړغولے:(ړ-غ-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ړغولی- مؤنث ړغولې- وګورئ ړغول-

ړغون:(ړ-غ-ون)حاصل مصدر- وګورئ ړغول-

ړغونکے:(ړ-غ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ړغونکی- مؤنث ړغونکې- وګورئ ړغول-

ړغونګ:(ړ-غ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ړغول-

ړغونه:(ړ-غ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ړغول-

ړغر:(ړ-غر)اسم صفت- مذکر- غږ لرونکے- د غږ-

ړغېدل:(ړ-غې-دل)مصدر لازم- (۱)په خبرو راتلل- ګوېدل- (۲)وهلے کېدل- غږول کېدل- ړغولے کېدل (د رباب وغیره)-

ړغېدلے:(ړ-غې-د-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ړغېدلی- مؤنث ړغېدلې- وګورئ ړغېدل-

ړغېدن:(ړ-غې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ړغېدل-

ړغېدنګ:(ړ-غې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ړغېدل-

ړغېدنه:(ړ-غې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ ړغېدل-

ړغېدونکے:(ړ-غې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ړغېدونکی- مؤنث ړغېدونکې- وګورئ ړغېدل-

ړغېده:(ړ-غې-ده)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ ړغېدل-

ړغښوه:(ړ-غښ-وه)اسم- مؤنث- ناحقه دعوی- بې استحقاق-

ړله ګرکے:(ړله-ګر-کے)اسم- واحد- مذکر- د واورې ګریګرکے- ګګرکے- ړغړغړے- ژله ګرکے-

ړلی:(ړ-لی)اسم- واحد جمع- مؤنث- د واورې زړې غټې ټکرې چي د باران سره ورېږی- ژلی- ږړی-

ړمنځ:(ړمنځ ړ-منځ)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم غاښ لرونکې آله چي وېښته پرې ړمنځولے (سمولے) شي- ږومنځ- منګځ- جمع ړمنځې-

ړمنځول:(ړ-من-ځ-ول)مصدر متعدی- وېښته سمول- ممنځول-

ئ (غی-رل)، ئ (امې-ړه-ول)، ئ (ېیا-لې)، ې (تن-دې) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۰۱

www.pukhto.net

ړمنخونکے :(ړ-من-خ-وون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع ړمنخونکی- مؤنث ړمنخونکې- وګورئ ړمنخول-

ړمنخونه :(ړ-من-خ-وه-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ ړمنخول-

ړمنخېدل :(ړ-من-خې-دل)مصدرِ لازم- وېستهٔ سمېدل- غمنخېدل-

ړمنخېدنه :(ړ-من-خې-دَه-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ ړمنخېدل-

ړمنخېدونکے :(ړ-من-خې-دون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع ړمنخېدونکی- مؤنث ړمنخېدونکې- وګورئ ړمنخېدل-

ړمنخېده :(ړ-من-خې-ده)حاصلِ مصدر او د ماضی استمراری دٙ واحد غائب صیغه- وګورئ ړمنخېدل-

ړمنخی :(ړ-من-خی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دٙ جولا ړمنځ- دٙ اُبدلو ړمنځ- رېځ-

ړمنخے :(ړ-من-خے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم ړمنځ چې یو خوا عاښونه لری او بل خوا نهٔ لری-

ړموبخ :(ړ-مو-بخ)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ړمنځ-

ړنګ :(ړنګ)اسم- واحد- مذکر- زنګوله- زنګ- کینګرے- ګونګړ- جمع ړنګونه- (افغانستان)-

ړنګورے :(ړنګ-ګو-رے)اسم- واحد- مذکر- دٙ انګورو غونګړ- دٙ انګورو وښکالے- دٙ انګورو ګانے- ګونګے- جمع ړنګوری-

ړوړ :(ړوړ)اسمِ صوت- زوږ- شور و غوغا- اوازونه-

ړومنخے :(ړو-من-خے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم صحرائی بوټے-

ړوے :(ړ-وے)اسم- واحد- مذکر- شاهد- ګواه-

ویرخرېبلے :(ویر-خَری-بېلے)اسم صفت- (۱)هغه څوک چې ویره یٔ خرېبلې وی- (۲)شرمېدلے- خجل شوے-

ویرور :(وی-ر-ور)اسم صفت- مذکر- دٙ ویرې خاوند-

ویره :(وی-ره)اسم- مؤنث- د مخ هغه وېښتهٔ چې لوئ پرېښودے شی-

ویری :(وی-ری)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دٙ جوارو دٙ توکي (غوټې) نازکه پرده چې دٙ دانې مخ یٔ پوښلے ری- پرده- پخه- پهه- سیکه- پم-

ویرے :(وی-رے)اسم- واحد- مذکر- دٙ ځنګلې سر- دٙ ځنګلې بند-

www.pukhto.net

س:(سین)حرف- دَ پښتو دَ حروف تهجی پوویشتم حرف چې دَ ابجدو لهٔ حسابه یٔ شمېر ۶۰ دے-

سا:(سا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)روح- لروا- دم- نفس- (۲)هوا- باد- (۳)بدبوئ- (۴)تور رنګ لرونکې یو مرغی-

سا:(سا)اسم- واحد- مذکر- پهٔ اوږ سړونو کښې دَ وږومبی مٔز نوم-

سابات:(سا-بات)اسم- واحد- مذکر- دالان- ګهر- دالېز- سیوت- کوټخه-

سابر:(سا-بر)اسم- واحد- مذکر- (۱)ماره سینګی- (۲)دَ باره سینګی زیره سپینه او سوارې ګرمن- (۳)دَ کبهر وهلو آله یا اوزار-

سابع:(سا-بِع)اسم عدد- أووم- (عربی)-

سابق:(سا-بق)صفت- وړاندینے- اولے- مخکښې- وړومبے- لرغون- سابقه- د مخه- (عربی)-

سابقه (سا-ب-قه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)معامله- تعلق- رابطه- واسطه- (۲)وګورئ سابق-

سابندی:(سا-بَن-دی)اسم- واحد- مؤنث- سالندے- دمه- کوتلسانی- یو قسم بیماری-

سابنې:(سا-ب-نې)اسم- واحد جمع- مؤنث- هغه آله چې پښ (الومار) سکارهٔ وړماندې تازه کوی- بنی- پوړۍ- پښ بنی-

سابنے:(سا-ب-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- ساګ خرڅونکے- ترکاری خرڅونکے- هغه څوک چې سابهٔ پلوری- سوزی کار-

سابن:(سا-بِن)اسم- واحد- مذکر- صابون- جمع سابنونه-

سابو:(سا-بو)اسم- یو قسم بوټے چې دَ پاڼو یٔ رسی او پوزی جوړیږی- مروے- میزرے-

سابودانه:(سا-بو-دا-نه)اسم- واحد- مؤنث- د یوې ونې تخم چې بیمارانو ته پهٔ پیو کښې اچوی او دغښې یو نرم خوراک ترې تیار کړے شی- (م- فارسی)-

سابونک:(سا-بو-نک)اسم- واحد- مذکر- یو قسم بوټے چې دَ جامو وینځلو دَ پاره هم پکارولے شی- (افغانستان)-

سابهٔ:(سا-بهٔ)اسم- ساګ- ترکاری- سبزی- تره-

سابهٔ والا:(سا-بهٔ-وا-لا)اسم صفت- مذکر- سابهٔ خرڅونکے- هغه څوک چې سابهٔ خرڅوی-

سابیری:(سا-بی-ری)اسم- واحد جمع- مؤنث- الوتکه- جهاز- طیاره- جیاز- جور- (افغانستان)-

سابی:(سا-بی)اسم- واحد- مذکر- (۱)باغوان- ساګ خرڅونکے- (۲)یو قسم خوږهٔ سرهٔ انګور-

ساپت:(سا-پت)متعلق فعل- بالکل- بیخی- سوچ- سراسر- ټول- ساپته- پهٔ یو ځایٔ- وګورئ ټاله-

ساپته:(سا-پ-ته)متعلق فعل- وګورئ ساپت-

ساپېدل:(سا-پې-دل)مصدر- پاکېدل- صافېدل- خالص کېدل- چاڼېدل- صاف کېدل- سوتره کېدل- سوچه کېدل- (افغانستان)-

ساپېدن:(سا-پې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ساپېدل-

ساپېدنګ:(سا-پې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ساپېدل-

ساپېدنه:(سا-پې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ ساپېدل-

ساپېدونکے:(سا-پې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ساپېدونکی- مؤنث ساپېدونکې- وګورئ ساپېدل-

ساپېدهٔ:(سا-پې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ ساپېدل-

سات:(سات)اسم- واحد- مذکر- لحظه- وخت- لاظه- لمحه- سېکنډ- (م- ساعت)

سات تېری:(سات-تې-ری)اسم- تفریح- ساعت تېرېدنه- لوبه- خوشی- ساتېری- هوساینه- هواخوری- (افغانستان)-

سات تېرے:(سات-تې-رے)اسم صفت- واحد- مذکر- ساعت تېرونکے- تفریح کونکے- (افغانستان)-

ساتل:(سا-تل)مصدر متعدی- بچ کول- پهٔ ځایٔ کول- حفاظت کول-

ساتلے:(سا-تلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- ساتلے شوے- بچ شوے- محفوظ شوے- وګورئ ساتل-

ساتن:(سا-تن)حاصل مصدر- وګورئ ساتل-

ساتنګ:(سا-تنګ)حاصل مصدر- وګورئ ساتل-

ساتندوے:(سا-تن-د-وے)اسم فاعل صفت- واحد- مذکر- حامی- محافظ- ساتونکے-

ساتنګی:(سا-تنګ-کی)اسم- مونث- ساړوبی- زرهٔ تنګېدنه-

ساتنګے:(سا-تنګ-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- تعدی کونکے- تعدی ګر- میړه کونکے-

ساتنه:(سا-ت-نه)اسم- واحد- مؤنث- حفاظت- ژغورنه- پهٔ امن کونه- بچ کونه- پالنه-

ساتول:(سا-تول)اسم- واحد- مذکر- هغه آله چې غوښه پرې قیمه کولے شی- ټوقیه- ټوکیا- هډکې- ساطور- دَ هډوکو ماتولو آله-

ساتونکے:(سا-تون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ساتونکی- مؤنث ساتونکې- وګورئ ساتل-

ساټ باټ:(ساټ-باټ)اسم مرکب- (۱)سمانه- غوره- (۲)سینګار- ښکلا- سشن- سوټ بوټ- (۳)یو قسم کپړه-

ساټین:(سا-ټین)اسم- واحد- مذکر- ساټن- اطلس- یو قسم کپړه-

ساجد:(سا-جد)اسم صفت- مذکر- سجده کونکے- خدایٔ ته سر ښکته کونکے- (م- عربی)-

ساج:(ساج)اسم- یو قسم توره او سپینه مرغی- اره ټکه- سبرکه- سارکه- سېرۍ- سراچه- (م- فارسی)-

ساچمه:(ساچ-مه)اسم- واحد- مؤنث- چره- چرې- وړوکې شان دانه چې پهٔ ماتې ټوپک کښې استعمالیږی-

ګ (ګی-رل)، ږ (ږې-ږ-ول)، ړ (ړې-ا-لې)، ے (تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۲۱

ساحر :(سا-حِر)اسم صفت- مذکر- جادوګر- کوډګر- سحرګر- پاړوګر- (م- عربي)-

ساحری:(سا-حِ-ري)اسم- مؤنث- جادوګري- کوډګري-

ساحل:(سا-حِل)اسم- واحد- مذکر- د سین غاړه- هغه وچه غاړه چي په بحر پورې نښتې وي- (م- عربي)-

ساحلي:(سا-حِ-لي)اسم صفت- په ساحل مربوط- د بحر د وچې غاړې-

ساحه:(سا-حه)اسم- واحد- مؤنث- ناحیه- سیمه- ساحت- منطقه- جمع ساحې- (افغانستان)-

ساخارين:(سا-خا-رين)اسم- واحد جمع- مذکر- سکرين- ساکارين- (افغانستان)-

ساخت:(ساخت)اسم- (۱)جوړ شوی- روغ شوی- (۲)جوړونه- رغونه- (۳)پخه او رنګ شوې څرمن- (م- فارسي)-

ساخت:(ساخَت)اسم- واحد- مذکر- یو قسم بیزو- بیزوګے-

ساختګي:(ساخ-تَ-ګي)اسم- مؤنث- جوړه شوې- جوړ شوی- جعلي- غیر اصلي- غیر طبعي- بناوټ-

ساختلے:(ساخت-تَ-لے)اسم مفعول- (۱)بې سا- مړ- (۲)وریان وریان- غمژن-

ساختمان:(ساخ-تْ-مان)اسم- (۱)جوړښت- رغښت- (۲)جوړابه- اړاو- (۳)ودانی- تعمیر- آبادي- (افغانستان)-

ساختماني:(ساخ-تْ-ما-ني)اسم صفت- (۱)د جوړښت- (۲)د عمارت- د ودانۍ- (افغانستان)-

ساخته کار:(ساخ-ته-کار)اسم صفت- مذکر- (۱)جعلکار- تقلب کار- چلولي- (۲)دوکه مار- چمار- دوکه باز- (افغانستان)-

ساخته کاري:(ساخ-ته-کا-ري)اسم- مؤنث- (۱)جعلکاري- تقلب کاري- چل ول- (۲)غولونه- تېر ایستنه- خطا ایستنه-

ساخولے:(سا-خو-لے)اسم صفت- واحد- مذکر- زغمونے- حلیم- بردبار-

ساخه:(سا-خه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)هیبتناکه چغه- حیدری چغه- (۲)بلا- آفت-

ساد :(ساد)اسم صفت- مذکر- پاک- سوتره- سْتره- روغ- ایماندار- د ښو اخلاقو خاوند- د غل ضد- سادګه-

سادات:(سا-دات)اسم- جمع- مذکر- (۱)سیدان- هغه کسان چي شجره نسب ئې حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم سره یوځاۍ کیږي- (۲)عزتمند- عالي مقام- (۳)لویان- (م- عربي)-

سادګه:(سا-دګه)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ساد-

سادګي:(سا-د-ګي)اسم- واحد- مؤنث- ساده والے- (۱)بې تکلفي- (۲)سهولت- آساني- (۳)خاکساري- (۴)سپېدلتیا- شوده توب- پاوې توب-

سادو :(سا-دو)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)چالاک- چلباز- مکرژن- (۲)ثناخوان- مداح- عزت مند-

ساده:(سا-ده)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)معمولي- آسان- (۲)هغه کپړه یا بل کوم څیز چي نقش و نګار پرې نه وي شوی- بیوره- (۳)سپین زړے- اخلاصمند- (۴)کم عقل- سپېدلے- پاوي- شوده- (۵)نکه- خالص- (فارسي)-

ساده باده:(سا-ده-با-ده)اسم صفت- واحد جمع- مذکر مؤنث- ناپوه- کم عقل- احمق- ساده بوده- ساده سوده-

ساده بوده:(سا-ده-بو-ده)اسم صفت- واحد/جمع- مذکر/مؤنث- کم عقل- احمق- بوله- اېغ نېغ- هغه څوک چي په چل ول نه پوهیږي- ساده باده- ساده سوده-

ساده توب:(سا-ده-توب)اسم- مذکر- نرمي- سادګي-

ساده دل :(سا-ده-دل)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)رښتونے- سپین زړے- سپېڅلے- صادق- پاک زړے- ساده لوح- (۲)کمعقل- مؤنث ساده دله-

ساده دلي:(سا-ده-د-لي)اسم- واحد- مؤنث- ساده توب- سادګي-

ساده سوده:(سا-ده-سو-ده)اسم صفت- واحد جمع- مذکر مؤنث- بې پرله- بې تمیزه- ساده باده- ساده بوده-

ساده لوح:(سا-ده-لوح)اسم- واحد جمع- مذکر- وګورئ ساده دل-

سادين:(سا-دين)اسم- واحد- مذکر- هغه زمکه چي د کروندې نه مخکښې واړولے شي-

ساړنګ:(سا-ړنګ)اسم صفت- واحد- مذکر- کم عقل- احمق-

ساړو :(سا-ړو)اسم صفت- واحد- مذکر- دروغژن- لاپو- دوړن- پوزن-

ساړوب:(سا-ړوب)اسم صفت- واحد- مذکر- زړه تنګے- خواشینے- خوابدے-

ساړوبي:(سا-ړو-بي)اسم- واحد- مؤنث- زړه تنګي- نفس تنګي- غمژن توب- ساتنګي- خواشیني-

ساړه:(سا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- لافه- دروغ خبره- پوزه-

ساربان:(سار-بان)اسم- واحد- مذکر- ساروان- اوښبه- اوښوان- (فارسي)-

سارق:(سا-رق)اسم- بخي- څبکي- بوخکي- (فارسي)-

سارق:(سا-رِق)اسم صفت- واحد- مذکر- غل- شوکمار- ډاکو- داړه مار- (عربي)-

سارک:(سا-رک)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)کلک- ټینګ- محکم- مضبوط- (۲)اسم- د اګی سر-

سارکه:(سار-که)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ساچ- جمع سارکې-

سارمکي:(سار-مْ-کي)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ سارمے-

سارمه:(سار-مه)اسم- وګورئ سارمے-

سارمے:(سار-مے)اسم- واحد- مذکر- یو تریو خوند لرونکے ساګ- سارمه- سارمکي-

سارنده:(سار-ن-ده)اسم- واحد- مؤنث- سرنده- سیرنده- جمع سارندې- (افغانستان)-

سارنګ:(سا-رنګ)اسم- واحد- مذکر- یو قسم راګ-

سارنګي:(سا-رنګ-ګي)اسم- واحد- مؤنث- د موسیقۍ یو غټه آله- یو قسم

www.pukhto.net

عته سریښده- سیریښده-

سارنګی:(سا-رنګ-ګی)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ سارنګی-

ساروان:(سار-وان)اسم- واحد- مذکر- ساربان- اوښبه- اوښان ساتونکے-

سارواني:(سار-وا-ني)اسم- واحد- مؤنث- د اوښبه کار او پیشه- اوښان ساتنه-

ساری:(سا-ری)اسم- مؤنث- برابری- انډولتیا-

سارے:(سا-رے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)سیال- مخے- (۲)برابر- مساوی- انډول-

سارِ:(سارِ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)یخ- د تندي لهٔ لاسه وچ- (۲)تږے- (۲)د چیلم پهٔ تویو کښې سوځېدلی تماکو-

سارهٔ:(سا-رهٔ)اسم- واحد- مذکر- د یخنی موسم- د ګرمی ضد- یخنی-

سارهٔ تودهٔ:(سا-رهٔ-تو-دهٔ)اسم- (۱)یخ ګرم- (۲)شکسته- ښوروا- تودوبے- (۳)آرام تکلیف- (۴)تجربې-

ساړی:(سا-ړی)اسم- واحد- مؤنث- د هندوستان د ښځو یو قسم لباس چې پهٔ پاکستان کښې ئ هم زنانه استعمالوی-

ساز:(ساز)اسم- واحد- مذکر- (۱)د موسیقی د یوې یا ګڼو آلو اواز- (۲)صحت- روغ- جوړ- سم-

سازباز:(ساز-باز)اسم- مذکر- چل ول- سازش- چل وته- جوړ تور- اټ سټ- خپلو کښې سره څهٔ خبره جوړونه-

سازش:(سا-زش)اسم- واحد- مذکر- (۱)منصوبه- صلاح- (۲)د څهٔ کار د کولو نه وړاندې د هغې د کولو طریقه خوښونه- (کول مصدر)-

سازمان:(ساز-مان)ا م- د یوې ادارې یا موسسې د خلکو او کارکونکیو مجموعه- تنظیم- تشکیل- (افغانستان)-

سازنده:(سا-زن-ده)اسم- واحد- مذکر مؤنث- ساز غږونکے- د موسیقی د یوې آلې نه آواز ویستونکے- سازی-

سازوار:(ساز-وار)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)کم عقل- احمق- (۲)لږ شان- لږ کوږې- (۳)برابر- متوسط- (افغانستان)-

ساز و باز:(ساز-و-باز)اسم- ږول سینګار- زیب و زینت-

سازول:(سا-زَ-ول)مصدر متعدی- (۱)سمول- جوړول- (۲)د دوؤ کسو یا پلو مینځ کښې صُلح راوستل- پخلا کول-

سازون:(سا-زَ-ون)حاصل مصدر- وګورئ سازول-

سازونکے:(سا-زَ-وون-کے)اسم فاعل- جمع سازونکی- مؤنث سازونکې- وګورئ سازول-

سازونګ:(سا-زَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سازول-

سازونه:(سا-زَ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ سازول-

سازوهٔ:(سا-زَ-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ سازول-

سازی:(سا-زی)اسم صفت- واحد- مذکر- د موسیقی هنرمند- ساز غږونکے- سازنده- جمع سازیان-

سازېدل:(سا-زې-دل)مصدر لازم- (۱)سمېدل- جوړېدل- (۲)روغېدل- د دوؤ کسانو تر مینځه صلح راتلل- سره پخلا کېدل-

سازېدن:(سا-زې-دن)حاصل مصدر- وګورئ سازېدل-

سازېدنګ:(سا-زې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سازېدل-

سازېدنه:(سا-زې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ سازېدل-

سازېدونکے:(سا-زې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع سازېدونکی- مؤنث سازېدونکې- وګورئ سازېدل-

سازېدهٔ:(سا-زې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ سازېدل-

ساطور:(سا-طور)اسم- وګورئ ساتول- (فارسی)-

ساعت:(سا-عت)اسم- واحد- مذکر- لمحه- وخت- ګړی- جمع ساعتونه- (عربی)-

ساغر:(سا-غر)اسم- واحد- مذکر- جام- پیاله- د شرابو څښلو جام یا پیاله- (م- فارسی)-

ساق:(ساق)اسم- واحد- مذکر- د کیڼی او کونډی تر مینځه د پښې حصه- لېکے- (م- فارسی)-

ساقط:(سا-قط)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ضائع کېدونکے- پرېوتونکے- لوښېدونکے- (۲)زیان شوے اولاد- بې مودې اولاد-

ساقطول:(سا-قِ-طَ-ول)مصدر متعدی- (۱)ضائع کول- غرځول- (۲)بچے ضائع کول- بچے غرځول-

ساقطون:(سا-قِ-طَ-ون)حاصل مصدر- وګورئ ساقطول-

ساقطونکے:(سا-قِ-طَ-وون-کے)اسم فاعل- وګورئ ساقطول-

ساقطونګ:(سا-قِ-طَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ساقطول-

ساقطونه:(سا-قِ-طَ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ساقطول-

ساقطوهٔ:(سا-قِ-طَ-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ ساقطول-

ساقطېدل:(سا-قِ-طې-دل)مصدر لازم- (۱)ضائع کېدل- غرځېدل- لوښېدل- (۲)بچے غرځېدل- کچه حمل غرځېدل-

ساقطېدن:(سا-قِ-طې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ساقطېدل-

ساقطېدنګ:(سا-قِ-طې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ساقطېدل-

ساقطېدنه:(سا-قِ-طې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ ساقطېدل-

ساقطېدونکے:(سا-قِ-طې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ساقطېدونکی- مؤنث ساقطېدونکې- وګورئ ساقطېدل-

ساقطېدهٔ:(سا-قِ-طې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ ساقطېدل-

ساقی:(سا-قی)اسم صفت- واحد- مذکر- اُبهٔ ورکونکے- اُبهٔ وېشتونکے- اُبے- ابیار- (۲)شراب وېشونکے- پهٔ بل شراب څښونکے- (۳)محبوب-

ساک:(ساک)اسم- واحد- مذکر- (۱)شربت- څښاک- (۲)ککوړه- توبره- چنته-

ساکت:(سا-کت)اسم- واحد- مذکر- خاموش- چپه خله- پټه خله- غلے- چپ- پهٔ آرام- (م- عربی)-

ساکین:(سا-کین)اسم- ژوندے- ذی روح-

www.pukhto.net

ساکن:(سا-کن)اسم- واحد- مذکر- په ځای ولاړ- په ځای پروت- نه خوځېدونکی- دَ متحرکت ضد- (م- عربي)-

ساګ:(ساګ)اسم- واحد جمع- مذکر- ساګ- یو قسم شنه سبزی چي پخولی شي او دَ پخلی نه پس هم شین بخن رنګ لري-

ساګ سکړ ک:(ساګ-سک-ړک)اسم مرکب- د غریبي خوراک-

ساګلو:(ساګ-لو)اسم- پتیله- دېګبر- زړوکی مسی دېګ-

ساګله:(ساګ-له)اسم- وګوری: ساګلو-

ساګودانه:(سا-ګو-دا-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: سابودانه-

ساګی:(سا-ګی)اسم- جمع- مذکر- ماشي-

سال:(سال)اسم- مذکر- (۱)یو قسم ونه چي لرګی یې په ابادی کښي پکارولی شي- (۲)سوری- (۳)چاونډ (د ښځښتي)- (۴)ګیدړ- (۵)کور- مکان- (۶)انګړ- غولی- (۷)یو قسم کب- (۸)زغي- (۹)درد- دوک- (م- هندی)-

سال:(سال)اسم صفت- مذکر- ور- مناسب- سیال-

سال:(سال)اسم- پسته شکه- نرمه شګه- (افغانستان)-

سالار:(سا-لار)اسم- واحد- مذکر- مشر- سردار- دَ لښکر مشر- دَ ولې مشر- (م- فارسي)-

سالانه:(سا-لا-نه)اسم صفت- کال په کال- کالیز- کال پس-

سالدانه:(سال-دا-نه)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم دانه چي تر یو کاله پوري وي- کالدانه- (افغانستان)-

سالک:(سا-لک)اسم- واحد- مذکر- (۱)لاروی- لاریه- (۲)نېک- صالح- پارسا- پرهیزګار- (م- عربي)-

سالګره:(سال-ګره)اسم- واحد- مؤنث- دَ پیدائش ورځ نمانځنه-

سالم:(سا-لم)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- (۱)روغ- جوړ- ثابت- (۲)بې عیبه- بې نقصه- (۳)مکمل- پوره- (عربي)-

سالنامه:(سال-نا-مه)اسم- واحد- مؤنث- یوه کتابچه چي دَ کال د میاشتو نه علاوه اهم تاریخي، جغرافیائي او سیاسي معلومات لري- جمع سالنامې-

سالنړی:(سا-لن-ړی)اسم- واحد- مذکر- د یو مرض نوم چي سا پکښي لنډه لنډه کېږي- سابندي- جمع سالنړي-

سالو:(سا-لو)اسم- واحد- مذکر- پړونی- شال- څادر- ریښمین څادر- دَ زنانوو څادر- جمع سالوګان-

سالوس:(سا-لوس)اسم صفت- مذکر- (۱)مکرژن- فرېبي- دوکه باز- ټګ- چلی- چمباس- (۲)اسم- مکر- فرېب- ټګي- چمباسي- چم- چل- (فارسي)-

سالون:(سا-لون)اسم- واحد- مذکر- (۱)لويه کوټه- (۲)لوئ دالان-

ساله:(سا-له)اسم- واحد- مؤنث- پوښل شوې چوتره چي پرې کورت وچولی شي-

ساله:(سا-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ فصل ساتني دَ پاره جوړ پټونی چي سړی پکښي ناست وي او فصل ساتي- (۲- صفت)منځنی- میانه-

سام:(سام)اسم- واحد- مذکر- (۱)ېره- خوف- هیبت- (۲)دروندوالی-

سامان:(سا-مان)اسم- واحد جمع- مذکر- مال اسباب- لوښي لرګي- دَ کور لوښي کوډي- (فارسي)-

سامانی:(سا-ما-ني)اسم- واحد- مؤنث- دَ انګورو اوږده جووه چي تړي نه وړي جووی ایښه کولی شي- (افغانستان)-

سامبولی:(سام-بو-لی)اسم صفت- واحد- مذکر- بې پرتوګه- پرتوګ وکښلی- ځامبولی- (افغانستان)-

سامع:(سا-مع)اسم صفت- واحد- مذکر- اورېدونکی- مؤنث سامعه- جمع سامعین- (م- عربي)-

سامعه:(سا-م-عه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ اورېدو قوت- (۲)دَ اورېدو حس-

سامی:(سا-مي)اسم- واحد جمع- مؤنث- دَ امسا یا کونتي تېره سر چي په زمکه لګي- دَ اوسپني شلکی-

سان:(سان)اسم- واحد جمع- مذکر- یو قسم سپین رخت چي عام طور سره دَ کفن دَ پاره پکارولی شي-

سانچه:(سان-چه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)قالب- چندری- (۲)دَ واوري دَ جوړولو قالب- دَ خښتو جوړولو قالب-

سانچه:(سان-چه)اسم صفت- نوی- نوی نوزی- جدید- (افغانستان)-

سانحه:(سا-نحه)اسم- واحد- مؤنث- حادثه- واقعه- پېښه-

ساندو:(سان-دو)اسم صفت- واحد- مذکر- ویر کوونکی- ژړا کوونکی- ډېرږلی-

سانده:(سان-ده)اسم- واحد- مؤنث- ژړا- ویر- فریاد- مړی پسي ژړا- جمع ساندي-

ساندی:(سان-دی)اسم- واحد- مذکر- هغه میلمه چي په چا دَ پېرو ورځو دَ پاره پېره شي-

ساند:(ساند)اسم- واحد- مذکر- هغه څاروی چي دَ نسل زیاتولو دَ پاره ساتلی شي-

سانبا:(سان-بوا)اسم- واحد- مذکر- سنهاء د میښي نر-

سانبو:(سان-بو)اسم- واحد- مذکر- دَ میښي خاوند- دَ ښځي دَ خور خاوند- جمع سانبوان-

سانبه:(سان-به)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ښاخي- دري ښاخي- (۲)چرمبکی- ډرمبکی- ګرمبکی- شلاته- سمسره- سمساره-

سانګی:(سانګ-ګي)اسم- واحد جمع- مؤنث- ښاخي- سکو-

ساړ:(ساړ)اسم- واحد- مذکر- انبر غوښي یا اُس-

ساز:(ساز)اسم- واحد- مذکر- ټېکس- باج- مالیه- چونګی- محصول-

ساوږ:(سا-وږ)اسم صفت- واحد- مذکر- ساهو- (۱)خپلواک- حریت پسند- (۲)شریف- (۳)دَ کور او جائداد خاوند- څاني- (۴)ساکتي- (۵)مهذب- (۶)دوکاندار- سیټ-

ساوږتوب:(سا-وږ-توب)اسم- دَ ساهو جوړېدو حالت-

زېر"(خـېـبـه-سره)، زورکی"(شل)، پېښ"(مو-کا-وه)، زېر"(کـتـاب)، جزم"(شکون)، ة"(ر-وه)، "ڈ"(ږوسي-ده)

www pukhto net

ساويسا:(سا-وي-سا)اسم- واحد- مذكر- اعتبار- يقين- اعتماد- باور- توكل-
ساوړے:(سا-وړے)اسم صفت- واحد- مذكر- هغه أس چي تر ډېره وخته زغل كولے شي-
ساه:(ساه)اسم- واحد- مؤنث- سا- ارواح- ژوند- روح- دم- پوكے- براس-
ساه لنډے:(ساه-لن-ډے)اسم- واحد- مذكر- ساه بندي- دمه- يو مرض چي ساه پكښې بنده بنده كيږي او نښلي- سابندي-
ساه نيولے:(ساه-ني-ولے)اسم صفت- واحد- مذكر- وارخطا- ګوډ- جمع سانيولي-
ساهو:(سا-هو)اسم صفت- واحد- مذكر- اصيل- شريف- سوچه- جاندار- زوړ-
ساهوكار:(سا-هو-كار)اسم صفت- واحد- مذكر- لوئ مالدار- سېټ-
ساهي:(سا-هي)اسم صفت- واحد- مذكر- بې پروا- غافل- ناخبره- (افغانستان)-
سائبان:(سا-ئ-بان)اسم- واحد- مذكر- سېورے پېدا كونكے ګادر- د نمر يا ګرمي نه بچ كونكے ګادر- ميناه- چتر- سيوان- سايه وان-
سائل:(سا-ال/سا-يل)اسم- واحد- مذكر- (۱)سوال كونكے- فقير- ملنګ- خواست كونكے- (۲)درخواست كونكے- مؤنث سائله-
سائنس:(سا-ئنس)اسم- واحد- مذكر- يو تحقيقي علم چي له بركته ئ نوي نوي څيزونه پېدا كيږي- حكمت- فن- د طبيعياتو علم-
سايه:(سا-يه)اسم- واحد- مذكر- سېورے- سورے-
سايه دار:(سا-يه-دار)اسم صفت- واحد- مذكر- سېورے لرونكے- چي سېورے لري-
سايه وان:(سا-يه-وان)اسم- واحد- مذكر- وګورئ سائبان/سايوان-
سائي:(سا-ئي)اسم- مؤنث- بيانه- بيعانه-
سايوان:(سا-ئے-وان)اسم- چترى- سېورے- شاميانه- سائبوان- سائبان- كهر- منډو- چڅكے-
سائے:(سا-ئے)اسم- واحد- مذكر- خوړ- د سېلاب د اُبو د تېرېدو لاره-
سبا:(س-با)اسم- واحد- مذكر- راتلونكې ورځ- د نن او بل سبا مېنځنۍ ورځ-
سبابه:(س-با-به)اسم- واحد- مؤنث- د شهادت ګته- مسواكه ګته- جمع سبابې-
سبات:(س-بات)اسم- واحد- مذكر- منډو- برانډه- كوټګی- دويم چت-
سباكون:(س-با-كون)اسم- واحد- مذكر- وګورئ سباوون-
سباناړے:(س-با-ناړے)اسم- واحد- مذكر- د سحر ناشته- د سحر خوراك-
سباوون:(س-با-وون)اسم- د سحر وخت- سباكون-
سباني:(س-با-ني)اسم- واحد- مذكر- وګورئ سبا- د سحر وخت- سحر وختي-
سبب:(س-بب)اسم- واحد- مذكر- عُذر- وجه- وسيله- ذريعه- بدل- عوض-
سوبه-
سبت:(س-بت)اسم- واحد- مذكر- (۱)صدف- سيپي- (۲)شنبه- د شنبې ورځ- د خالي ورځ- خالي- (عربي)-
سبحان:(سُب-حان)اسم- واحد- مذكر- پاك- د پاكى ښتن- د الله تعالى يو صفتي نوم-
سبد:(س-بد)اسم- واحد- مذكر- ټوكرى- شكور- كهاړه- (فارسي)-
سبر:(سَ-بر)اسم- واحد- مذكر- سرو- سروې- سروه- يو مخروطي ونه چي كالوسر شنه وي-
سبركه:(سبر-كه)اسم- واحد- مؤنث- سيلي- تېز باد-
سبره:(سب-ره)اسم- واحد- مؤنث- نيفه- دنګه- سمه- (افغانستان)-
سبرے:(سب-رے)اسم- واحد- مذكر- شمكور- شبكور- چي تيارۀ كښې ئ نظر نۀ لګي-
سبز:(س-بز)صفت- مذكر- تازه- تروتازه-
سبزه:(سب-زه)اسم- واحد- مؤنث- شين چمن- شين كبل- شنه ګياه- جمع سبزې-
سبزى:(سب-زى)اسم- واحد جمع- مؤنث- هغه مراوى كېدونكې څيزونه لكه كوبى، پياز، ساګ، مټر وغيره چي تركارى ترې پخولے شي- (م- فارسي)-
سبزے:(سب-زے)اسم- واحد- مذكر- يوه وړه غُندې ټوكرى چي د سبزى تركارى يا روټۍ ايښودولو د پاره پكارولے شي-
سبق:(س-بق)اسم- واحد- مذكر- (۱)تعليم- لېك لُست- (۲)تلاوت- پوهه- درس- (۳)پند- نصيحت- (۴)سزا- (م- عربي)-
سبقت:(سَب-قت)اسم- واحد- مذكر- (۱)وړاندې والے- مخكښې والے- مخكښې كېدنه- (۲)ترقى- (م- عربي)-
سبقي:(س-بق-قي)اسم- واحد- مذكر- د لېك لُست ملګرے- د تعليم د حاصلولو ملګرے-
سبک:(س-بک)اسم- واحد- مذكر- (۱)سپک- (۲)نازک- (۳)تېز- چُست- چالاک- (م- فارسي)-
سبک:(س-بک)اسم- واحد- مذكر- (۱)طرز- طريقه- لاره- (۲)د شاعر اديب د خپلو احساساتو بيانولو يوه خاص طريقه يا طرز- (م- فارسي)-
سبل:(س-بل)اسم- واحد- مذكر- د سترګو يوه بيمارى- (م- عربي)-
سبل:(س-بل)اسم- جمع- مذكر- د سبيل جمع- وګورئ سبيل- (عربي)-
سبو:(س-بو)اسم- مذكر- منګے- چاټى- د شرابو چاټى- (فارسي)-
سبوس:(س-بوس)اسم- واحد- مذكر- بوس- د غنمو، جوارو يا دالو چڼو پوستكي- ككول- ځځك-
سبوسک:(س-بو-سک)اسم صفت- مذكر- اړواوړے- اُويستركے- اړواخوارے-
سبونكه:(س-بو-ن-كه)اسم- واحد- مؤنث- د خوږينو وريژو او سابو نه جوړ خوراک- (افغانستان)-
سبونے:(س-بو-نے)اسم- د اړو خميره- خميره-

ى" (هي-ږل)، ى"(هي-ږ-ول)، ى"(ږپا-لي)، ے"(تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۰۱

سبیل:(سَ-بیل)اسم- واحد- مذکر- (۱)لاره- طریقه- طرز- (۲)قربانی- نذر- (عربی)-

سپاچه:(سَ-پا-چه)اسم- واحد- مؤنث- چوتره- صفه- پېړه-

سپارخول:(سَپار-خول)اسم- واحد- مذکر- دَ یوې کُنده چې پیال پکښې لګېدلے وی- دَ پیال کنده-

سپارش:(سَ-پا-رش)اسم- واحد- مذکر- سفارش- حواله- سپارښته- جمع سپارشونه-

سپارښت:(سَپا-رښت)اسم- واحد- مذکر- سپارل- سپارښتنه- چا ته حواله کونه- د چا په ذمه کونه-

سپارښتنه:(سَپا-رښ-تۀ-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سپارښت-

سپارل:(سَپا-رل)مصدر متعدی- حواله کول- په ذمه کول-

سپارلے:(سَپار-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع سپارلی- مؤنث سپارلې- وګورئ سپارل-

سپارن:(سَپا-رن)حاصل مصدر- وګورئ سپارل-

سپارنګ:(سَپا-رنګ)حاصل مصدر- وګورئ سپارل-

سپارنه:(سَپا-رۀ-نه)حاصل مصدر- وګورئ سپارل-

سپارونکے:(سَپا-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع سپارونکی- مؤنث سپارونکې- وګورئ سپارل-

سپاره:(س-پا-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سپېره-

سپاره:(سَپا-ره)اسم- واحد- مؤنث- دَ یوې په کنده کښې دَ اُسپنې هغه تېره مېښوکه چې زمکه پرې اړولے شي-

سپاره:(سَپا-ره)اسم- واحد- مؤنث- هغه زخم یا ننکی چې د خرابېدو نه پس ترې هر وختې نو بهېږی- ناسور-

سپاری:(سَ-پا-ری)اسم- واحد جمع- مذکر- دَ غَز په شان وېر کلک غنزاری چې دَ پکره پکره کولو نه پس دَ پان په خوراک کښې استعمالېږی-

سپاږه:(سه-سپا-ږه)اسم صفت- واحد- مؤنث- دَ کور په کارونو کښې لته ښځه-

سپاس:(س-پاس)اسم- واحد- مذکر- د چا احسان منښه- د چا په احسان شکریه ادا کول- شکریه- احسان مندی- (فارسی)-

سپاسنامه:(س-پاس-نا-مه)اسم- واحد- مؤنث- هغه تحریری شکریه چې د چا لوئ بنده (وزیر یا صدر وغېره) په خدمت کښې دَ هغهٔ د ښهٔ کارکردګی په وجه پېش کولے شي-

سپانده:(سپان-ده)اسم- واحد- مؤنث- (۱)سپېلنی- د سپېلنی بوټے- (۲)بې قدره- سپک-

سپاهی:(سَپا-هی)اسم- واحد- مذکر- سپاهی- دَ فوځ یا پولیس زلمے- اسپاهی-

سپخول:(سپۀ-خ-ول)مصدر متعدی- پرانستل- سپوخول- سپړدل- سپړل- سپړدول- کنډلے شوے خاټی پرانستل-

سپخون:(سپۀ-خ-ون)حاصل مصدر- وګورئ سپخول-

سپخونکے:(سپۀ-خ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع سپخونکی- مؤنث سپخونکې- وګورئ سپخول-

سپخونګ:(سپۀ-خ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سپخول-

سپخونه:(سپۀ-خ-وۀ-نه)حاصل مصدر- وګورئ سپخول-

سپخېدل:(سپۀ-خې-دل)مصدر لازم- پرانستلے کېدل- سپړدلے کېدل- د کنډلی خاټی پرانستے کېدل-

سپخېدلے:(سپۀ-خې-دۀ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع سپخېدلی- مؤنث سپخېدلې- وګورئ سپخېدل-

سپخېدن:(سپۀ-خې-دن)حاصل مصدر- وګورئ سپخېدل-

سپخېدنګ:(سپۀ-خې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سپخېدل-

سپخېدنه:(سپۀ-خې-دۀ-نه)حاصل مصدر- وګورئ سپخېدل-

سپخېدونکے:(سپۀ-خې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع سپخېدونکی- مؤنث سپخېدونکې- وګورئ سپخېدل-

سپخېده:(سپۀ-خې-دۀ)حاصل مصدر- وګورئ سپخېدل-

سپر:(س-پر)اسم- واحد- مذکر- ډهر- چوپهال- په داګه زمکه دَ لرګی یا دېټو په ستنو اچولے شوے چت-

سپر:(س-پر)اسم- واحد- مذکر- ډال- کنګل-

سپرخی:(سپر-خی)اسم- واحد جمع- مؤنث- یو قسم ونه چې ازغی یې ډېر اوږده او پاڼې یې وړې وی-

سپرخے:(سپر-خے)اسم- واحد- مذکر- لویه ستن چې کبردی او کټې وغېره پرې ګنډلے شي- جمع سپرخی-

سپرغوږے:(س-پر-غوږ-ږے)اسم صفت- واحد- مذکر- ځهر غوږے- هغه کس چې غوږونه یې ډېر غټ وی-

سپرغه:(سپر-غه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کومے- (۲)ګل- (۳)دَ اَبو په مېنځ کښې دَ ځ ځاې- جمع سپرغې-

سپرغی:(سپر-غی)اسم- واحد جمع- مؤنث- دَ اَور بڅری-

سپرک:(سپر-رک)اسم- واحد- مذکر- یو قسم بوټے چې په لاس وَمښلے شي نو زېړ رنګ پرېږدی-

سپرلو:(سپر-لو)اسم- مؤنث- (۱)اس خځلونه- اس له منډې ورکونه- (۲)دَ اسونو د ځغلولو مېدان- (۳)تورو پله-

سپرلی:(سپر-لی)اسم- سورلی- د سورلی غلط قرات-

سپرلے:(سپر-لے)اسم- واحد- مذکر- په ځلورو موسمونو کښې دَ یو نوم چې زنې بوټی پکښې شنهٔ کېږی او نهٔ پکښې یخنی وی او نهٔ ګرمی- بهار- جمع سپرلی-

سپرول:(سپهر-ول)مصدر متعدی- سورول-

سپرون:(سپهر-ون)حاصل مصدر- وګورئ سپرول-

سپرونکے:(سپهر-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع سپرونکی- مؤنث سپرونکې- وګورئ سپرول-

سېرونګ:(سېه-رَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سېرول-
سېرونه:(سېه-رَ-ونَه)حاصل مصدر- وګورئ سېرول-
سېروۀ:(سېه-رَ-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ سېرول-
سېربدل:(سېه-رې-دل)مصدر لازم- سوربدل-
سېربدن:(سېه-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ سېربدل-
سېربدنګ:(سېه-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سېربدل-
سېربدنه:(سېه-رې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ سېربدل-
سېربدونکے:(سېه-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع سېربدونکي- مؤنث سېربدونکې- وګورئ سېربدل-
سېربدۀ:(سېه-رې-دۀ)حاصل مصدر- وګورئ سېربدل-
سېږدل:(سېږ-دل)مصدر متعدی- پرانستل- خلاصول- آزادول-
سېږدلے:(سېږ-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع سېږدلي- مؤنث سېږدلې- وګورئ سېږدل-
سېږدن:(سېږ-دن)حاصل مصدر- وګورئ سېږدل-
سېږدنګ:(سېږ-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سېږدل-
سېږدنه:(سېږ-دنه)حاصل مصدر- وګورئ سېږدل-
سېږدونکے:(سېږ-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع سېږدونکي- مؤنث سېږدونکې- وګورئ سېږدل-
سېږدۀ:(سېږ-دۀ)حاصل مصدر- وګورئ سېږدل-
سېږدے:(سېږ-دے)اسم صفت- واحد- مذکر- سېږلے- خلاص- سېړے-
سېړل:(سېه-ړل)مصدر متعدی- سېږدل- بېرته کول- ښکاره کول- پرانستل-
سېړنه:(سېه-ړنه)حاصل مصدر- وګورئ سېړل-
سېړودل:(سېه-ړو-دل)مصدر متعدی- وګورئ سېږدل-
سېړبدل:(سېه-ړې-دل)مصدر لازم- سېږدے کېدل- آزادېدل- خلاصېدل-
سېړبدن:(سېه-ړې-دن)حاصل مصدر- وګورئ سېړبدل-
سېړبدنګ:(سېه-ړې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سېړبدل-
سېړبدنه:(سېه-ړې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ سېړبدل-
سېړبدۀ:(سېه-ړې-دۀ)حاصل مصدر- وګورئ سېړبدل-
سېړے:(سېه-ړے)اسم صفت- واحد- مذکر- ښکاره- سرګند- برڅېره- برسېره- سېږدے-
سېږن:(سېږ-ږن)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه بنده چې پۀ سر کښې ئې سېږي وي- سېږن-
سېږمه:(سېږ-مه)اسم- واحد- مؤنث- سېږمه- دَ پوزې سورے- جمع سېږمې-
سېږن:(سېه-ږن)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ سېږن- مؤنث سېږمه-
سېږه:(سېه-ږه)اسم- واحد- مؤنث- د سړی نه لوه وړه وېښه ښکونکې حشره چې دَ سر پۀ وېښتو کښې پېدا کېږی- جمع سېږې-
سېږی:(سېه-ږی)اسم- واحد جمع- مؤنث- د غلې دانې سېږه- هغه سېږه چې پۀ غله کښې پېدا کېږی-

سېغزه:(سېغ-زه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سېوغزه- جمع سېغزې-
سېغول:(سېغ-غول)اسم- واحد جمع- مذکر- وګورئ سېغول-
سپک:(سپک)اسم صفت- مذکر- (۱)پۀ وزن سپک- دَ درون ضد- (۲)بې عزته- ذلیل- دَ کچه خوئ خاوند- حقیر- مؤنث سپکه-
سپکاوے:(سپه-کا-وے)اسم- چا ته بدرد وئېنه- چا ته سپکې خبرې کومه- بې عزتي- سپکتوب-
سپکتوب:(سپک-توب)اسم- مذکر- سپکتیا- بې عزتي- حقارت- سپکوالے- سپکاوے-
سپکتیا:(سپک-تیا)اسم- وګورئ سپکتوب-
سپک سپاند:(سپک-سپاند)اسم صفت- مذکر- بې عزته- بې سکه- بې شرمه- بې عزته شوے-
سپک سپور:(سپک-سپور)اسم صفت- مذکر- بې خونده-
سپکوالے:(سپک-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سپکتوب-
سپکول:(سپه-کول)مصدر متعدی- (۱)وزن کمول- (۲)بدرد وئیل- بې عزته کول-
سپکون:(سپه-کون)حاصل مصدر- وګورئ سپکول-
سپکونکے:(سپه-کوون-کے)اسم فاعل- جمع سپکونکي- مؤنث سپکونکې- وګورئ سپکول-
سپکونګ:(سپه-کونګ)حاصل مصدر- وګورئ سپکول-
سپکونه:(سپه-کونه)حاصل مصدر- وګورئ سپکول-
سپکوۀ:(سپه-کوۀ)حاصل مصدر- وګورئ سپکول-
سپکه:(سپه-که)اسم صفت- واحد- مؤنث- دَ سپک مؤنث- وګورئ سپک-
سپکه سپوره:(سپه-که-سپو-ره)اسم مرکب- مؤنث- ترخه خبره- رټه خبره- عبث خبره- فضول خبره-
سپکېدل:(سپه-کې-دل)مصدر لازم- (۱)کمېدل- لږېدل- (۲)بې عزته کېدل- ذلیل کېدل-
سپکېدن:(سپه-کې-دن)حاصل مصدر- وګورئ سپکېدل-
سپکېدنګ:(سپه-کې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سپکېدل-
سپکېدنه:(سپه-کې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ سپکېدل-
سپکېدونکے:(سپه-کې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع سپکېدونکي- مؤنث سپکېدونکې- وګورئ سپکېدل-
سپکېدۀ:(سپه-کې-دۀ)حاصل مصدر- وګورئ سپکېدل-
سپل اغزے:(سپل-اغ-زے)اسم- واحد- مذکر- سپل ازغے- اغزکے- ازغکے- یو تریخ ازغی لرونکے بوټے چې پۀ خېټو دولیانو کښې پکارولے شي-
سپلغټ:(سپل-غټ)اسم- مذکر- دَ سپې غل- دَ سپې کندکې- دَ سپې پلیتې- سپا غله-
سپلکے:(سپل-کے)اسم- واحد- مذکر- هغه پسۀ چې پښې ئې سپینې او بدن ئې سور وي- (العاسنان)-

ئ- (څې-رل)، ی-(ستې-رمول)، ې-(بیا-لې)، ے-(تن-دے) تفصیل دَ پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www pukhto net

سپلک:(سَپ-لَک)اسم- مذکر- هغه غوړی چې لهٔ وازدې نه حاصلولے شی- پل-

سپلک:(سپَل-گه)اسم- واحد- مؤنث- دَ ابرک تیږه- یو قسم مهینه، پسته او

خړ رنګې تیږه-

سپلم:(سَپهٔ-لم)اسم- واحد- مذکر- (۱)کیدړه- (۲)صفت- چغلګر- چغلی خور-

سپلمه:(سپَل-مه)اسم- واحد- مؤنث- ګوګوشتکه- کورکورې- کورکوړه- جمع

سپلمې-

سپلمی:(سپل-می)اسم- واحد جمع- مؤنث- یو قسم صحرائے بوټے چې پاڼې

ې د زخم یا پرهار د پاره پکارولے شی- سپولمی- نباتاتی نوم

کیلوټروپس جیګانټیے (CALOTROPIS GIGANTEA)-

سپلمے:(سَپل-مے)اسم- واحد- مذکر- هغه اُس چې پښې او تندے ې سپین

وی-

سپم:(سَپم)اسم- واحد- مذکر- د ګنبلو دَ سټنې سورے- سخې- جمع

سپمونه-

سپما:(سپه-ما)اسم- واحد- مذکر- پهٔ خیال لګښت کونه- پیسه پیر پهٔ خیال

لګونه- کفایت شعاری- پس انداز- ذخیره- زیرمه- بچت-

سپمبوټے:(سَپم-بو-ټے)اسم- واحد- مذکر- خوږ پاڼې لرونکے یو قسم

غرنے بوټے چې دوائی او سوی کښې پکارولے شی- ترخه-

سپموک:(سپه-موک)اسم صفت- بچت کونکے- سپمے-

سپمول:(سپه-م-ول)مصدر- بچت کول- پهٔ اندازه خرچ کول- پیسه پهٔ خیال

لګول-

سپمولے:(سپه-م-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع سپمولی- مؤنث

سپمولې- وګورئ سپمول-

سپمون:(سپه-م-ون)حاصل مصدر- وګورئ سپمول-

سپمونکے:(سپه-م-وون-کے)اسم فاعل- وګورئ سپمول-

سپمونګ:(سپه-م-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سپمول-

سپمونه:(سپه-م-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ سپمول-

سپموهٔ:(سپه-م-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ سپمول-

سپمېدل:(سپه-مې-دل)مصدر لازم- بچت کېدل- بچ کېدل- پاتی کېدل- پس

انداز کېدل-

سپمېدلے:(سپه-مې-د-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع سپمېدلی- مؤنث

سپمېدلې- وګورئ سپمېدل-

سپمېدن:(سپه-مې-دن)حاصل مصدر- وګورئ سپمېدل-

سپمېدنګ:(سپه-مې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سپمېدل-

سپمېدنه:(سپه-مې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ سپمېدل-

سپمېدونکے:(سپه-مې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع سپمېدونکی-

مؤنث سپمېدونکې- وګورئ سپمېدل-

سپمېدهٔ:(سپه-مې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ سپمېدل-

سپمے:(سپه-مے)اسم- (۱)دَ غرمنې یو مرض چې دَ خشکی لهٔ کبله پیدا

کیږی- سپونے- (۲)- صفت:وګورئ سپموک-

سپنخرے:(سپن-خهٔ-رے)اسم- واحد- مذکر- اسپنخرے- د اَسپنې هغه بیکاره

برخې چې پهٔ اَور کښې د سرې کولو نه پس تری پاتې کیږی-

سپندغ:(سپن-دغ)اسم- واحد- مذکر- (۱)غنهسکه- غنهسکے- توپکے- توپ-

کسد- پیهوس- (۲)د غنیو غنوارے- (۲)دَ بوسو سخے- پیپے- دَ بوسو نه

یکه د مږ سخې ګرمن-

سپدوخه:(سپن-دو-خه)اسم- واحد- مؤنث- د کېند لوبه- دَ توپکی لوبه-

سپنګه:(سپن-ګه)اسم- واحد- مؤنث- سپیرمه- دَ پوزې سورے-

سپنکیر:(سپنک-کیر)اسم- مذکر- یو قسم بوټے چې اَزغن وی او ترخه میوه

نیسی-

سپنکی:(سپنک-کی)اسم- واحد جمع- مؤنث- سپوږمی- ماهتاب- اوږمکی-

سپن:(سپن)حرف- سون- غږ- کلمه- سپون-

سپنسپنکے:(سپن-سپن-کے)اسم- هغه رګ چې دَ بدن دَ هډوکو دوه پندهٔ نه

سره تړی- سپنسکے-

سپنس:(سپن-س)اسم- جمع- مذکر- سُتلی- سنډ- دَ سوتلی تاروبه- مزی-

سپنسین:(سپن-سین)اسم صفت- دَ سوتلی نه جوړ- دَ سنډو نه جوړ- پنبه ئی-

سپنکے:(سپن-کے)اسم- واحد- مذکر- د اَور بګرے- دَ اَور بګرکے-

سپېل:(سپهٔ-ېل)مصدر- (۱)سپړدل- سپړودل- پرانستل- جُدا کول- خلاصول-

آزادول- (۲)چېړل- څېړل-

سپېلے:(سپهٔ-نهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع سپېلی- مؤنث سپېلې-

وګورئ سپېل-

سپېول:(سپهٔ-نه-ول)مصدر- وګورئ سپېل-

سپېون:(سپهٔ-نه-ون)حاصل مصدر- وګورئ سپېل-

سپېونکے:(سپه-نه-وون-کے)اسم فاعل- وګورئ سپېل-

سپېونګ:(سپهٔ-نه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سپېل-

سپېونه:(سپهٔ-نه-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ سپېل-

سپېوهٔ:(سپهٔ-نه-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ سپېل-

سپېدل:(سپهٔ-نې-دل)مصدر لازم- سپړېدل- جُدا کېدل- پرانستے کېدل-

آزادېدل- دَ جامو درز خلاصېدل-

سپېدن:(سپهٔ-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ سپېدل-

سپېدنګ:(سپهٔ-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سپېدل-

سپېدنه:(سپهٔ-نې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ سپېدل-

سپېدونکے:(سپهٔ-نې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع سپېدونکی-

مؤنث سپېدونکې- وګورئ سپېدل-

سپېدهٔ:(سپهٔ-نې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ سپېدل-

سپنے:(سپهٔ-نے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سپمے سپونے-

سپوتکے:(سپو-ته-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- بې همته تیټ او پست

سړے- سپوتے-

سهوټکے:(س-هوټ-کے/سهو-ټه-کے)اسم- (۱)پوړنے- ټیکرے- (۲)هغه ټوکر چې د دیګ په سر اچولے شي-

سهوټے:(سهو-ټے)اسم- وګورئ سهوټکے ۱-

سهوخشه:(سهو-خ-شه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سهوغزه-

سهور:(سهور)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)بې غوړیو- خشک- (۲)د سهکې خلې خاوند-

سهورخلے:(سهور-خ-لے)اسم صفت- پوچ خلے- بدزبان- بدژبے-

سهورخور:(سهور-خور)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه سړے چې همېشه سهوره روټۍ خوري- (۲)شوم- بخیل-

سهورسترګے:(سهور-ستر-ګے)اسم صفت- کلک سترګے- سپین سترګے- بې حیا-

سهورغته:(سهور-غ-ته)اسم- واحد- مؤنث- د اور سکروټه-

سهورغوړے:(سهور-غوړ-ے)اسم صفت- په خبره غوړ نه لرونکے- خان کږونکے-

سهورغی:(سهور-غی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)یو قسم ونه- (۲)د دروازې کل مېخې-

سهورکه پلے:(سهور-که-پ-لے)اسم- واحد- مؤنث- د ماشومانو یو قسم لوبه-

سهوروالے:(سهور-وا-لے)اسم- (۱)خشکي- بې غوړیوالے- وچتوب- (۲)بدمزاجي-

سهوړول:(سهو-ړ-ول)مصدر متعدي- خشکول- وچول- بې غوړیو کول-

سهوړون:(سهو-ړ-ون)حاصل مصدر- وګورئ سهوړول-

سهوړونکے:(سهو-ړ-ون-کے)اسم فاعل- جمع سهوړونکي- مؤنث سهوړونکې- وګورئ سهوړول-

سهوړونګ:(سهو-ړ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سهوړول-

سهوړونه:(سهو-ړ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ سهوړول-

سهوړوه:(سهو-ړ-وه)حاصل مصدر- وګورئ سهوړول-

سهوره:(سهو-ره)اسم صفت- د سهور مؤنث- وګورئ سهور-

سهورې:(سهو-رې)اسم- جمع- مؤنث- (۱)کنځل وینا- پوچې خبرې- بده وینا- سهورې ستڼې- ستڼې خبرې- (۲)د سهوره جمع-

سهورېدل:(سهو-رې-دل)مصدر لازم- خشکېدل- وچېدل- بې غوړیو کېدل-

سهورېدن:(سهو-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ سهورېدل-

سهورېدنګ:(سهو-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سهورېدل-

سهورېدنه:(سهو-رې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ سهورېدل-

سهورېدونکے:(سهو-رې-دون-کے)اسم فاعل- جمع سهورېدونکي- مؤنث سهورېدونکې- وګورئ سهورېدل-

سهورېده:(سهو-رې-ده)حاصل مصدر- وګورئ سهورېدل-

سهورې ستڼې:(سهو-رې-ستڼ-ې)اسم- وګورئ سهورې-

سهوږمۍ:(سهو-ږمۍ)اسم- واحد- مؤنث- میاشت- مه- مهتاب- قمر-

سهوږمۍ بوټے:(سهو-ږمۍ-بو-ټے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم بوټے چې آبي ګل کوي-

سهوږمۍ تندره:(سهو-ږمۍ-تن-دره)اسم- واحد- مؤنث- د سهوږمۍ تندر نیونه- خسوف- ترنده-

سهوږمۍ ګل:(سهو-ږمۍ-ګل)اسم- واحد- مذکر- یو قسم نقش چې د وریښمو په وسیله ئې جامک کېږي- (افغانستان)-

سهوغان:(سهو-غان)اسم- ویلني ته ورته یو قسم سپین بخن بوټے او د هغې سپین ګل-

سهوغزه:(سهو-غ-زه)اسم- مثانه- د نوم لاندې حصه-

سهول:(سهه-ول)مصدر متعدي- ډېر زیات ستړے کول-

سهومے:(سهو-مے)اسم- واحد- مذکر- سهمے- سپونے- سپونے- د غرمنې یو قسم بیماري چې خارښ کوي-

سهون:(سهه-ون)حاصل مصدر- وګورئ سهول-

سهونکے:(سهه-ون-کے)اسم فاعل- جمع سهونکي- مؤنث سهونکې- وګورئ سهول-

سهونګ:(سهه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سهول-

سهونه:(سهه-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ سهول-

سهون:(سهون)اسم- واحد- مذکر- (۱)تلفظ- هجا- (۲)د دوو پټیو تر مینځه ورخ یا دانه- (افغانستان)-

سهونول:(سهو-نه-ول)مصدر متعدي- ازادول- خلاصول- سپردل- سهېل- جدا کول-

سهونېدل:(سهو-نې-دل)مصدر لازم- سپردے کېدل- خلاصېدل- سهېدل- جدا کېدل-

سهونے:(سهو-نے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سهمے سهومے-

سهوه:(سهه-وه)حاصل مصدر- وګورئ سهول-

سپه سالار:(ف-سپه-سا-لار)اسم- واحد- مذکر- سر لښکر- د لښکر مشر- ټولمشر- جرنیل-

سهپازول:(سهپا-زه-ول)مصدر متعدي- اولاد ضائع کول- بچے غورځول- حمل ساقطول- اولاد زیانول-

سهپازولے:(سهپا-زه-و-لے)اسم مفعول- جمع سهپازولي- مؤنث سهپازولې- وګورئ سهپازول-

سهپازون:(سهپا-زه-ون)حاصل مصدر- وګورئ سهپازول-

سهپازونکے:(سهپا-زه-ون-کے)اسم فاعل- جمع سهپازونکي- مؤنث سهپازونکې- وګورئ سهپازول-

سهپازونګ:(سهپا-زه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سهپازول-

سهپازونه:(سهپا-زه-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ سهپازول-

سهپازوه:(سهپا-زه-وه)حاصل مصدر- وګورئ سهپازول-

سهپازه:(سهپا-زه)اسم- واحد- مؤنث- هغه ښځه چې بچے ضائع کوي-

ئ: (ئي-رل)، ي: (مي-ره-ول)، ې: (ډېـا-لې)، ے: (تن-دیر) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

جمع سپیازي-

سپیازبدل:(سپیا-ري-دل)مصدر لازم- ازلاد صائع کېدل- مچې عرحمل- حمل ساقطېدل- ریاسدل- بچې مقصاندل-

سپیارپدلے:(سپیا-ري-دهٔ-لے)اسم مفعول- جمع سپیازبدلي- موٌنث سپیارېدلې- وګورئ سپیاربدل-

سپیاربدن:(سپیا-ري-دن)حاصل مصدر- وګورئ سپیاربدل-

سپیازبدنګ:(سپیا-ري-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سپیازبدل-

سپیاربدنه:(سپیا-زي-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ سپیازبدل-

سپیارېدونکے:(سپیا-ري-دون-کے)اسم فاعل- جمع سپیاربدونکي- مؤنث سپیازېدونکې- وګورئ سپیربدل-

سپیاکه:(سپیا-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د میو پوپې- (۲)د لرګي دوه شاخې-

سپیتوب:(سپي-توب)اسم- سپي غندي خوئ کونه- دْ سترګو وْږے والے- د اروا خوازوالے-

سپیغود:(سپي-غود)اسم- واحد- مذکر- سپین ګل لرونکے یو قسم غرنیز بوټے-

سپیغول:(سپي-غول)اسم- واحدٌجمع- مذکر- اسپغول- سپغول- سیبغول- یو مشهور تخم چې په دارو کښې استعمالیږی- نباتاتی نوم پلانټیګو اسپغول -PLANTAGO ISPAGALU

سپین:(سپین)صفت- مذکر- د تور ضد- پاک- صفا- صادق-

سپیناوے:(سپي-نا-وے)اسم- وضاحت- شګ لري کونه-

سپین باز:(سپین-باز)اسم صفت- (۱)صادق- په زړهٔ صفا- (۲)یو قسم باز چې سپینې بڼې لري-

سپین بخن:(سپین-به-خن)اسم صفت- سپین رنګ ته مائل- دْ سپین رنګ په شان-

سپین پانبڅه:(سپین-پاںْ-څه)اسم صفت- واحد- مؤنث- پېغله جینۍ- هغه جینۍ چې واده شوې نه وي-

سپین پوستے:(سپین-پوس-تے)صفت- سپین رنګے- سپینه ګرمن لرونکے انسان- سپین توکمے-

سپین تاودهٔ:(سپین-تاو-دهٔ)اسم- (۱)یو قسم کورت- (۲)کورت او غوړی-

سپین توب:(سپین-توب)اسم- سپین والے- سپین تیا-

سپین تیا:(سپین-تیا)اسم- وګورئ سپین توب-

سپین ټیکری:(سپین-ټیکري)اسم- هغه ښځه چې دْ دوؤ ټبرو تر مینځه دْ دشمنۍ سبب وګرځي-

سپین خے:(سپین-خے)اسم- کلاټی- قلعی- ښنګے-

سپین څوتار:(سپین-څو-تار)اسم- واحد- مذکر- سپینه پکړی- سپین پټکے-

سپین خرے:(سپین-خه-رے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سپیخرے-

سپین خلے:(سپین-خ-لے)اسم صفت- هغه ملک چې ویره یْ لا نهٔ وی راغلې- سکلے- شائسته- بې محے- بې محے-

سپین دروبے:(سپین-درو-بے)صفت- معزز- عزتمند- مخوریز- مشر-

سپین روبے:(سپین-رو-بے)صفت- وګورئ سپین دروبے-

سپین زر:(سپین-زر)اسم- یو سپین رنګ لرونکے قیمتي دهات-

سپین زړے:(سپین-زړه-ړے)صفت- دْ زړهٔ نه صفا- نېک نیته-

سپین پروکے:(سپین-پرو-کے)اسم- یو قسم بوټے-

سپین ویرتوب:(سپین-ویر-توب)اسم- بوډاتوب- بوډاوالے-

سپین ویرے:(سپین-وي-رے)صفت- بوډا- مشر- چې د ویرې ویښتهٔ یْ سپین شوی وي-

سپین سپږلے:(سپین-سپږ-لے)صفت- وګورئ سپین زړے-

سپین سترګي:(سپین-ستر-ګي)اسم- بې حیائي- بې شرمي-

سپین سترګے:(سپین-ستر-ګے)صفت- بې حیا- بې شرمه- **کلک سترګے-**

سپین سرے:(سپین-سر-رے)صفت- بوډا- مشر- زوړ- مؤنث سپین سرې-

سپین شونډوخانی:(سپین-شون-ډو-خاني)اسم- یو قسم سپین رنګي اوږدهٔ قندهاري کشمشي انګور-

سپینکی:(سپین-کي)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم سپین کب- سپین مهے چې ټنګې پکښې ډېرې کمې وي-

سپینکه:(سپینګ-که)اسم- واحد- مؤنث- سپېرمه- د پوزې سورے-

سپین لمنے:(سپین-لمن-بے)اسم صفت- واحد- مذکر- پاک دامن- دْ ښهٔ اخلاقو او اعمالو خاوند- مؤنث سپین لمنې-

سپین لمے:(سپین-لمے)اسم- واحد- مذکر- د لومبړی په شان یو ځناور- مؤنث سپین لمړ-

سپین والے:(سپین-والے)اسم- واحد- مذکر- (۱)سپین رنګ- (۲)وضاحت- (۲)پاکر- صفائی-

سپین وېره:(سپین-وېره)صفت- سپین بخن- سپین وزمه-

سپین وروے:(سپین-ور-وے)اسم صفت- سپین ویښتهٔ لرونکے آس-

سپینول:(سپي-نه-ول)مصدر متعدی- (۱)پوست لري کول- پوستکے لری کول- (۲)مسین لوښے سپینول- سپین رنګ ورکول- قلعي کول- (۲)خبره صفا کول- معامله پاکول-

سپین ولے:(سپین-وه-لے)اسم- واحد- مذکر- چنار- سپېدار-

سپینون:(سپي-نه-ون)حاصل مصدر- وګورئ سپینول-

سپینونکے:(سپي-نه-وون-کے)اسم فاعل- جمع سپینونکي- مؤنث سپینونکې- وګورئ سپینول-

سپینونګ:(سپي-نه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سپینول-

سپینونه:(سپي-نه-وهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ سپینول-

سپینوهٔ:(سپي-نه-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ سپینول-

سپینه:(سپي-نه)اسم- د سپین مونث- (۱)وګورئ سپین- (۲)وارده-

www.pukhto.net

(۳)روپۍ- (۴)جبره صفا کونه- (۵)پله-

سپيني:(سپي-نې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)د پوندې نه لره بره د پيچې پسته برخه- د پوندي د ساسه پلې- (۲)وازدې- وازګې-

سپينېدل:(سپي-نې-دل)مصدر لازم- (۱)پوست لرې کېدل- پوسکے لرې کېدل- (۲)سپين لوښے سپينېدل- سپين رنګ ورکولے کېدل- قلعي کېدل- (۳)معامله پاکېدل- خبره صفا کېدل-

سپينېدن:(سپي-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ سپينېدل-

سپينېدنګ:(سپي-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سپينېدل-

سپينېدنه:(سپي-نې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ سپينېدل-

سپينېدونکے:(سپي-نې-دون-کے)اسم فاعل- جمع سپينېدونکي- مؤنث سپينېدونکې- وګورئ سپينېدل-

سپينېده:(سپي-نې-ده)حاصل مصدر- وګورئ سپينېدل-

سپينے:(سپي-نے)اسم- د دوو تنو تر منځ د شخړې حل کونه- د دعوې فيصله-

سپېته:(سپي-ته)اسم- وګورئ شپېته-

سپېڅ:(سپېڅ)اسم- واحد- مذکر- صفا- سوچه- اصلي- خالص- بې عيبه- سپېڅلے-

سپېڅل:(سپي-څل)مصدر- صفا کول- پاکول- بې وته کول- بې عيبه کول-

سپېڅلتوب:(سپي-څل-توب)اسم- واحد- مذکر- پاکي- صفائي- پاک توب- پاکوالے- سوچه والے-

سپېڅلتيا:(سپي-څل-تيا)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سپېڅلتوب-

سپېڅلے:(سپي-څلے)صفت- پاک- صاف- صفا- سوتره- ستره- خالص- بې عيبه-

سپېڅونکے:(سپي-څون-کے)اسم فاعل- جمع سپېڅونکي- مؤنث سپېڅونکې- وګورئ سپېڅل-

سپېچه:(سپي-چه)اسم- يو قسم غنم-

سپېږ:(سپېږ)اسم- وګورئ سپېږ-

سپېدار:(سپي-دار)اسم- واحد- مذکر- يو لوړ قدې ونه- چينار- چنار- سپين چنار-

سپېدکي:(سپېد-کي)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم سپين بخن بوټے چې بېخ ئې نرے او سر ئې پلن وي-

سپېدلے:(سپي-دلے)صفت- ساده سړے- کم عقل- ساده لوح- ماړوهه-

سپېده:(سپي-ده)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم پاؤډر چې بنځې ئې د مخ د ښکلا د پاره پکاروي-

سپېدې:(سپي-دې)اسم- واحد- مؤنث- سباوون- د سحر رڼائي- د سبا علامه-

سپېرټ:(سپي-رټ)اسم- يو قسم سپينه دوائي چې په زخم وغيره لګولے شي- (م- انګريزي)-

سپېرخوټ:(سپېر-خوټ)اسم- واحد- مذکر- يو قسم ووړکے بوټے چې سپين ګل کوي-

سپېرخولے:(سپېر-خو-لے)صفت- بدخولے- پوچ خولے-

سپېرخے:(سپېر-خے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سپېرخے-

سپېرشلے:(سپېر-شملے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم ساګ چې د سپرلي په موسم کښې کېږي-

سپېرکي:(سپېر-کي)اسم- جمع- مؤنث- يو قسم بوټے او د هغې دانې چې د حيټي د درد د پاره تري د کورنۍ دوا کار اخستے شي- نباتاتي نوم (PIYCHOTIS AJOLAN) يا (LINGUSTICUM AJOLAN)-

سپېرکے:(سپې-ره-کے)اسم صفت- (۱)خاکسار- عاجز طبع- بې ضرره- (۲)نرے نروچکے- (۳)د سپېره مصغر- خر-

سپېرګل:(سپېر-ګل)مصدر متعدي- کنځل کول- زيرې کول- بدرد ونېل- نکنځل-

سپېرګلے:(سپېر-ګه-لے)اسم معرل- جمع سپېرګلي- مؤنث سپېرګلې- وګورئ سپېرګل-

سپېرګنه:(سپېر-ګنه)حاصل مصدر- وګورئ سپېرګل-

سپېرګونکے:(سپېر-ګون-کے)اسم فاعل- جمع سپېرګونکي- مؤنث سپېرګونکې- وګورئ سپېرګل-

سپېرګه:(سپېر-ګه)اسم- واحد- مؤنث- بکنځل- بدرد- زيره- کنځل-

سپېرلټ:(سپېر-لټ)اسم صفت- منحوس- سست- ناراسته- سپېره-

سپېرلکے:(سپېر-ل-کے)اسم- واحد- مذکر- د دوو کالو عمر ته نژدې بيان-

سپېرلم:(سپېر-لم)اسم- خرلمې- خړرنګې لومبړه- خره ګيدړه-

سپېرمخے:(سپېر-مه-خے)اسم صفت- سپېرمرغه- بدبخته- بدمرغه- بدطالعه- مؤنث سپېرمخې-

سپېرمرغه:(سپېر-مر-غه)اسم صفت- وګورئ سپېرمخے-

سپېرنے:(سپي-ر-نے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم خړرنګے ووړکے بوټے- چې ورے پاڼې لري او د ګل په ځاې غټې کوي-

سپېرونے:(سپي-رو-نے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم بوټے چې د چايو په ځاې هم استعمالولے شي- دښتي چاې-

سپېرونے:(سپي-ر-وو-نے)اسم- برنه- مرونه- سپېره- سپېرغونے-

سپېره:(سپي-ره)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)د سپېره مؤنث- وګورئ سپېره- (۲- اسم)وګورئ سپېرونے ۲-

سپېره:(سپي-ره)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- (۱)په خاورو ککړ- خړ- خاکي- (۲)تباه- وران- خراب- (۳)بدمرغه- بدطالع- بدبخته- بدقسمته-

سپېره توب:(سپي-ره-توب)اسم- واحد- مذکر- سپېره والے- (۱)بدمرغي- بدنصيبي- (۲)خړوالے-

سپېره غونے:(سپي-ره-غو-نے)اسم- وګورئ سپېرونے ۲-

سپېره والے:(سپي-ره-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سپېره توب-

سپېرمور:(سپېر-مور)اسم صفت- واحد- مذکر- ارتې او لوئ سپېرمې

www.pukhto.net

لرونکے انسان۔

سپېږمه:(سپې‌ږ-مه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ سپږمه۔ د پوزې سوري۔ جمع سپږمې۔

سپېسته:(سپېس-ته)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ تروه خمبيره۔ تروشه خميره۔

سپېسکے:(سپېس-کے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ يو قسم بوټے چې سپرلی کښې کيږي۔

سپېښته:(سپېښ-ته)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ هغه نرۍ پرده چې د زړۀ نه تاو وي۔ شپېته۔ د سږ پرده۔

سپېغود:(سپې-غود)اسم۔ وګورئ: سپېغود۔ يو قسم بوټے۔

سپېغول:(سپې-غول)اسم۔ وګورئ: سپېغول۔

سپېګانه:(سپې-ګا-نه)اسم۔ سپېتانه۔ بې غيرتي۔ رذالت۔ سپيتوب۔

سپېلنے:(سپې-ل-نے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ يو بوټے چې د نظر ماتولو پوټکه کښې شي۔ سپانده۔ نباتاتي نوم پګانم هرملا (PEGANUM HARMALA)۔

سپېمه:(سپې-مه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)هغه سپۍ چې نر سپے غواړي۔ (۲)بد عمله او بد کرداره ښځه۔

سپېمه توب:(سپې-مه-توب)اسم۔ سپېمه والے۔ د سپۍ هغه حالت چې نر سپي ته ئې شوق کيږي۔

سپېمه والے:(سپې-مه-والے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ: سپېمه توب۔

سپۍ:(سپۍ)اسم۔ واحد،جمع۔ مؤنث۔ وګورئ: سپے۔

سپے:(سپے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ يو قسم غوښه خوړونکے ځناور چې خلق ئې په کورونو کښې د څوکۍ د پاره هم ساتي۔ مؤنث سپۍ۔

سپے مخے:(سپے-مه-خے)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)بې لحاظه۔ بې پلمه۔ (۲)بې حيا۔ بې شرمه۔

سپے مرکو:(سپے-مر-کو)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د سپو يو قسم ناروغي۔

ست:(ست)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)بلنه۔ دعوت۔ (۲)د سپېڅولو نه رټے جوهر چې د ښېښې د نرمولو درا کښلے شي۔

ستا:(ستا)ضمير مخاطب۔ د تا۔

ستار:(س-تار)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ سيتار۔ د موسيقۍ يوه آله (م۔ فارسي)۔

ستار:(س-تار)اسم صفت۔ پرده پوښ۔ پرده پوش۔ پوښونے۔ پوښونکے۔ د الله تعالیٰ يو صفتي نوم۔ (م۔ عربي)۔

ستاره:(س-تا-ره)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)هيبت۔ ويره۔ ساه۔ دروندوالے۔ دبدبه۔ رُعب۔ سهم۔ (۲)قسمت۔ تقدير۔ بخت۔ طالع۔ تندے۔

ستاړه:(ستا-ړه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ صلح۔ سوله۔ پخلا کېدنه۔

ستاسو:(ستا-سو)ضمير مخاطب۔ جمع۔ د تاسو۔ د تاسو۔ ستاسې۔

ستاسې:(ستا-سې)ضمير مخاطب۔ جمع۔ وګورئ: ستاسو۔

ستالب:(ستا-لب)اسم۔ د ملا د مرد په دارو کښې پکارونکے يو قسم بوټے۔ (افغانستان)۔

ستانه:(ستا-نه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ آستانه۔ کور۔ د چا پير بزرګ ښېره۔

ستانه:(ستا-نه)صفت۔ جمع۔ پاتې شوي۔ ځنډېدلي۔ معطل شوي۔

ستاوندې:(ستا-ون-دې)اسم۔ جمع۔ مؤنث۔ عبث خبرې۔ فضول خبرې۔ اپلتې۔

ستايل:(ستا-يل)مصدر۔ تعريف کول۔ مدح ونيل۔ صفت کول۔ په ښۀ سترګه کتل۔

ستايلے:(ستا-يې-لے)اسم مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ جمع ستايلي۔ مؤنث ستايلې۔ وګورئ: ستايل۔

ستاين:(ستا-ين)حاصل مصدر۔ وګورئ: ستايل۔

ستاينګ:(ستا-ينګ)حاصل مصدر۔ وګورئ: ستايل۔

ستاينه:(ستا-يې-نه)حاصل مصدر۔ وګورئ: ستايل۔

ستايوال:(ستا-ي-وال)اسم صفت۔ صفت کونکے۔ ستايونے۔ ستايونکے۔ صفتي۔ مداح۔ تعريف کونکے۔ مدح ويونکے۔

ستايونکے:(ستا-يون-کے)اسم فاعل۔ جمع ستايونکي۔ مؤنث ستايونکې۔ وګورئ: ستايل۔

ستر:(ستر)اسم صفت۔ (۱)غټ۔ لوئ۔ (۲)مشر۔ (۳)فراخ۔ پلن۔ ويړ۔ (۴)تنکي۔ کولک۔ تېک۔ ځنې۔ (افغانستان)۔

ستر:(سه-تر)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ حجاب۔ پرده۔ پرده۔

ستراڼ:(ست-راڼ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ هغه مېوه چې له ونو نه په طوفان کښې پرېوتې وي۔

سترتوب:(ستر-توب)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ مشروالے۔ غټ والے۔ فراخ والے۔ پلن والے۔

سترغلي:(ستر-غ-لي)اسم۔ جمع۔ مذکر۔ د سترګو کاتې۔ د سترګو حلقې۔ د سترګو چاپېرچل ځايې۔

سترګبېجن:(ستر-ګ-بې-جن)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ هغه ښکلے څيز چې د خلقو سترګې ځان ته راکاږي۔

سترګتورن:(ستر-ګ-تو-رن)اسم صفت۔ (۱)هغه سړے چې څۀ څيز نه پېر لېواله وي۔ (۲)سرګردان۔ هغه سړے چې سترګې پرې تورېږي۔

سترګ خووے:(ستر-ګ-خو-وے)اسم صفت۔ هغه څوک چې سترګې ئې خوږ وي۔

سترګک:(ستر-ګک)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د سترګو اشاره۔ د سترګو خبره۔ سترګه وهنه۔

سترګن کوکو:(ستر-ګن-کو-کو)اسم۔ د نرګس ګل۔ نرګس۔ د نباتاتي نوم د پاره وګورئ: نرګس۔ (افغانستان)۔

سترګنلے:(ستر-ګ-ن-لے)اسم۔ د سترګو د کاتو ځايې۔ د سترګو کاسه۔

سترګ ووے:(ستر-ګ-و-وے)اسم صفت۔ حريص۔ وږ سترګے۔ لروا ووے۔

سترګه:(ستر-ګه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)چشم۔ هغه اندام چې د کتلو قوت لري۔ (۲)د بوټي سترګه۔ (۳)د مېبا سترګه۔ (۴)د نمر سترګه۔ جمع سترګې۔

سترګه وال:(ستر-ګه-وال)اسم صفت۔ سترګه ور۔ سترګېز۔ (۱)نظرباز۔

زبر "(خ-بـ-ـره)، زوروکے "(شل)، پېش "(خو-کا-ـره)، زېر "(ک-تـاب)، جزم "(شکون)، "ۀ" (ز-ړه)، "ۀ" (ږو-بې-دۀ)

www.pukhto.net

سترګور - بینا- لیدونکے- (۲)عاقل- د عقل خاوند- پوه-

ستركه ور :(ستر-کـه-ور)اسم صفت- وګورئ سترګه وال-

سترګیز :(ستر-ګیز)اسم صفت- وګورئ سترګه وال-

سترګی :(ستر-ګی)اسم- واحد،جمع- مؤنث- (۱)چشمې- عینکې- (۲)سترګې رااېستنه-

ستر توب:(ستر-توب)اسم- سترتیا- سترو الے- غټ والے- لوئ والے- مشر والے-

سترتیا:(ستر-تیا)اسم- وګورئ سترتوب-

سترممه:(س-تر-مه-مه)اسم صفت- ستر کونکې- پرده کونکې- ځان نه ښکاره کونکې-

سترو الے:(ستر-وا-لے)اسم- وګورئ سترتوب-

سترول:(ستـه-ر-ول)مصدر متعدی- (۱)لویول- غټول- (۲)کامیابول- وده ورکول-

سترون:(ستـه-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ سترول-

سترونکے:(ستـه-ر-وون-کے)اسم فاعل- جمع سترونکی- مؤنث سترونکې- وګورئ سترول-

سترونګ:(ستـه-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سترول-

سترونه:(ستـه-ر-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ سترول-

ستروے:(ستر-وے)اسم- واحد- مذکر- لوئ- لوئ والے- عظمت- سترتوب-

ستره:(ست-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پړونے- څادر- ټیکرے- (۲- صفت)ستردار- پرده دار-

ستره:(ست-ره)اسم- واحد- مؤنث- په کشتی کښې د ځارو د سورېدلو ځاې-

ستره:(ست-ره)اسم- واحد- مذکر- سوتره- صفا- پاک- بې عیبه- سپېځلے- سپېڅلے-

سترېدل:(ستـه-رې-دل)مصدر لازم- (۱)لوئ کېدل- غټېدل- (۲)وده کول- (۳)ترقی کول- کامیابېدل-

سترېدن:(ستـه-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ سترېدل-

سترېدنګ:(ستـه-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سترېدل-

سترېدنه:(ستـه-رې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ سترېدل-

سترېدونکے:(ستـه-رې-دون-کے)اسم فاعل- جمع سترېدونکی- مؤنث سترېدونکې- وګورئ سترېدل-

سترے:(ست-رے)اسم- واحد- مذکر- کېږدی- ملې- انبار- د فصل پرېکړے شوے ټوپ-

ستری وتری:(ست-ری-وت-ری)اسم مرکب- (۱)پرېشان- ګډوډ- تار په تار- (۲)هغه کورنی چې هر فرد ئې د بیمارۍ له کبله په کټ پروت وی-

ستری مشی:(ستـه-ری-مشی)اسم- هرکلے- په خیر راغلے-

سترے:(ستـه-رے)اسم صفت- (۱)ستومانه- (۲)پرېشانه- نرې نرې-

سترے توب:(ستـه-رے-توب)اسم- واحد- مذکر- د ستومانۍ حالت- (۲)د پرېشانۍ حالت-

سترے والے:(ستـه-رے-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سترے توب-

ستغ:(ستغ)اسم صفت- (۱)ربړ- تربخ- ناهموار- سخت- کلک- (۲- اسم)یو قسم غوټه چې په بدن کښې د ننکی په شکل کښې پېدا کېږی- (۳)د غرهٔ سر ته نېغه ختلې لاره-

ستعه:(ستـه-عه)اسم- واحد- مؤنث- بده وینا- سپوره وینا- سخته خبره-

ستل:(س-تل)مصدر متعدی- هوارول- اوارول-

ستم:(س-تم)اسم- واحد- مذکر- ظلم- زیاتے- تېرے-

ستمبول:(ستم-بول)اسم- واحد- مذکر- (۱)خوشبوئی- (۲)یو قسم نسواری رنګ لرونکے خوشبویه عنې ختکے-

ستمګر :(س-تم-ګر)اسم صفت- ظلم کونکے- ظالم- زیاتے کونکے-

ستم وهل:(س-تم-و-هل)مصدر متعدی- کوشش کول- سعی کول- زور کول-

ستمن :(ست-من)اسم صفت- مېلمه درست- په مېلمنو خرځ خوراک کونکے- مېلمه پالونکے-

ستمې :(ستـه-مې)اسم صوت- واحد- مؤنث- په زوره زوره د ساه اخستلو آواز- د زړهٔ درزار-

ستن:(ستن)اسم- واحد- مؤنث- یو نرے سلائی چې یو سر ئې تېره وی او بل سر کښې ئې نرے سورے وی او د ګنډلو د پاره بکارولے شی-

ستناؤ :(ستـه-ناو)اسم- واحد- مذکر- تمبوکے- ټالوکے- ځنګونکے د بند- حد- مانع-

ستناوه:(ستـه-نا-وه)اسم- مؤنث- د مشرتوب حق لرنه- (افغانستان)-

ستن بوټے:(ستن-بو-ټے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم بوټے- ستن ګیا-

ستنخے:(ستن-خے)اسم- واحد- مذکر- زندان- بندیخانه- جېل-

ستن ستنکے:(ستن-ستن-کے)اسم- صدبرګ ګل- ببرکوکو- ستنکے- مل بابې-

ستنول:(ستـه-نه-ول)مصدر متعدی- ګرځول- تمبول- اېسارول- بندول- اېسارول- معطلول- منع کول- ستوبول-

ستنون:(ستـه-نه-ون)حاصل مصدر- وګورئ ستنول-

ستنونکے:(ستـه-نه-وون-کے)اسم فاعل- جمع ستنونکی- مؤنث ستنونکې- وګورئ ستنول-

ستنونګ:(ستـه-نه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ستنول-

ستنونه:(ستـه-نه-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ستنول-

ستنه:(ستـه-نه)اسم- واحد- مؤنث- په شا تلنه- واپس تلنه- واپس کېدنه-

ستنه:(ستـه-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ستن-

ستنېدل:(ستـه-نې-دل)مصدر لازم- په شا تلل- واپس تلل- بېرته تلل- واپس کېدل-

ستنېدن:(ستـه-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ستنېدل-

ستنېدنګ:(ستـه-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ستنېدل-

www.pukhto.net

ستنېدنه:(ستهـ-نې-دهـ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ستنېدل-

ستنېدونکے:(ستهـ-نې--ون-کے)اسم فاعل- جمع ستنېدونکي- مؤنث ستنېدونکې- وګورئ ستنېدل-

ستنېدهٔ:(ستهـ-نې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ ستنېدل-

ستو:(س-تو)اسم- واحد،جمع- مذکر- وګورئ ستوان-

ستوان:(ست-وان)اسم- جمع- مذکر- وَړ تونان یا نیغې چې میده کړے شي خوارهٔ پکښې ولړلے شي او بیا خوړے شي-

ستوخ:(ستوخ)اسم صفت- سنغ- خیګ- سخت- کلک- ستوخ- هغه خیرونه چې خوند یې پېر تریخ وي-

ستور:(ستور)اسم- واحد- مذکر- (۱)د کوښتري مومره دانې خوړونکې یوه توررنګې مرغۍ- (۲)غټ ښاروے-

ستورپکی:(ستور-پهـ-کی)اسم- مؤنث- په دسترخوان کېدونکے یو مسم نقش-

ستوری:(ستو-ری)اسم- جمع- مذکر- هغه اجرام یا کرې چې په اسمان کښې دَ شپې په وخت پرتېدونکي ښکاري- واحد ستورے-

ستوری:(ستو-ری)اسم- مؤنث- مرخېړے- ګوګۍ- پوګکی- خربړے- ستورے-

ستورے:(ستو-رے)اسم- مذکر- (۱)وګورئ ستوری- (۲)بخت- طالع-

ستوغ:(ستوغ)اسم صفت- وګورئ ستغ-

ستوغه:(ستو-غه)اسم صفت- ستغه- د ستوغ مؤنث-

ستوکل:(ستو-کل)اسم- واحد- مذکر- بدنیته، شریر او ناراسته سړے-

ستوکه:(ستو-که)اسم- واحد- مؤنث- استوکه- استوګنه- وسېدنه- سکونت-

ستول:(س-ت-ول)مصدر متعدی- (۱)کمول- ټیټول- سهکول- غلے کول- کښېنول- (۲)دَ خوراک ښباک دعوت ورکول-

ستومان:(ستو-مان)اسم صفت- وګورئ ستومانه-

ستومانول:(ستو-ما-ن-ول)مصدر متعدی- (۱)ستړے کول- زېړل- (۲)پرېشانول- پرېشانه کول-

ستومانون:(ستو-ما-ن-ون)حاصل مصدر- وګورئ ستومانول-

ستومانونکے:(ستو-ما-ن-ون-کے)اسم فاعل- جمع ستومانونکي- مؤنث ستومانونکې- وګورئ ستومانول-

ستومانونګ:(ستو-ما-ن-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ستومانول-

ستومانونه:(ستو-ما-ن-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ستومانول-

ستومانه:(ستو-ما-نه)اسم صفت- ستومن- (۱)ستړے- خسته- ربړے- (۲)پرېشانه-

ستومانی:(ستو-ما-نی)اسم- واحد- مؤنث- دَ ستړی والی حالت- ستړے والے- (۲)دَ پرېشانۍ حالت-

ستومانېدل:(ستو-ما-نې-دل)مصدر لازم- (۱)ستړے کېدل- (۲)پرېشانه کېدل-

ستومانېدن:(ستو-ما-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ستومانېدل-

ستومانېدنګ:(ستو-ما-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ستومانېدل-

ستومانېدنه:(ستو-ما-نې-دهـ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ستومانېدل-

ستومانېدونکے:(ستو-ما-نې-دون-کے)اسم فاعل- جمع ستومانېدونکي- مؤنث ستومانېدونکې- وګورئ ستومانېدل-

ستومانېدهٔ:(ستو-ما-نې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ ستومانېدل-

ستومن:(ستو-من)اسم صفت- وګورئ ستومانه-

ستومے:(ستو-مے)اسم- واحد- مذکر- دَ ستني سترګه- د ستني سُم-

ستون:(ستون)اسم صفت- واحد- مذکر- بیرته ګرځېدلے- واپس شوے- معطل- پسته- واپس-

ستون:(س-تون)اسم- واحد- مذکر- د کوټې یا دالان ستن- پایه- اډانه-

ستون:(س-ت-ون)حاصل مصدر- وګورئ ستول-

ستونچه:(ستون-چه)اسم- واحد- مؤنث- هغه لستونے چې زنانه یې دَ بړوږی پخولو په وخت دَ لاس نه چاپېره کوی-

ستونځه:(ستون-ځه)اسم- واحد- مؤنث- کړاؤ- تکلیف- زحمت- ربړ-

ستونکے:(س-تون-کے)اسم فاعل- هواروونکے- اواروونکے-

ستونکے:(س-ت-وون-کے)اسم فاعل- جمع ستونکي- مؤنث ستونکې- وګورئ ستول-

ستونګ:(س-ت-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ستول-

ستونکی:(ستو-نه-ګی)اسم صفت- ستانګی- چې دَ ستانې سره تعلق لری- ستانه دار-

ستونول:(ستو-ن-ول)مصدر- وګورئ ستنول-

ستونونکے:(ستو-ن-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ستنول-

ستونه:(س-ت-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ستول-

ستونی ستغ:(ستو-نی-ستغ)اسم صفت- شا په رمکه- د پرمخ ضد-

ستونېدل:(ستو-نې-دل)مصدر لازم- ستنېدل- واپس کېدل-

ستونېدن:(ستو-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ستونېدل-

ستونېدنګ:(ستو-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ستونېدل-

ستونېدنه:(ستو-نې-دهـ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ستونېدل-

ستونېدونکے:(ستو-نې-دون-کے)اسم فاعل- جمع ستونېدونکي- مؤنث ستونېدونکې- وګورئ ستونېدل-

ستونېدهٔ:(ستو-نې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ ستونېدل-

ستونے:(ستو-نے)اسم- واحد- مذکر- حلق- مری- غړی-

ستوه:(ستـ-وه)اسم- واحد- مؤنث- هغه چارهٔ چې دوارهٔ مخه یې تېرهٔ وی- پېش کوزه- پېش قوزه- پېش قوزه- (م- فارسی پېش قبض)-

ستوهٔ:(ستـ-وهٔ)اسم- واحد- مؤنث- ستومانه- خفه- دلګیر- بې وسه- مجبور- (م- فارسی)-

ستوهه:(ستو-هه)اسم- واحد- مؤنث- مجبوری- ستړے والے-

ستوهېدل:(ستو-هې-دل)مصدر لازم- (۱)خفه کېدل- ناراضه کېدل- (۲)بې وسه کېدل- ستومانه کېدل- ستړے کېدل-

ستوهېدن:(ستو-هې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ستوهېدل-

ستوهېدنګ:(ستو-هې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ستوهېدل-
ستوهېدنه:(ستو-هې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ ستوهېدل-
ستوهېدونکے:(ستو-هې-دون-کے)اسم فاعل- جمع ستوهېدونکي- مؤنث ستوهېدونکې- وګورئ ستوهېدل-
ستوهېده:(ستو-هې-ده)حاصل مصدر- وګورئ ستوهېدل-
ستوی:(ستئ-وی)اسم- واحد- مؤنث- د سترګو یو قسم بیماری-
ستوے:(ستئ-وے)لاحقه- دَ یو سره استعمالېدونکې لاحقه چې دَ یوالښ والی معنٰی ورکوی -
سته:(سته)فعل- شته- موجود- دَ شته بل قرأت-
سته:(سته)اسم- مرسته- پره جبېه- حمایت-
ستهٔ:(ستهٔ)اسم- (۱)مال- دولت- (۲)وجود- هستی-
ستی:(س-تی)اسم صفت- پهٔ اور سوے- پهٔ اور سوزېدلے- کباب شوے- لمبه شوے- دَ هندوانو هغه رسم چې ښځه پکښې دَ مړ خاوند سره اور کښې سېزلے شي-
ستی:(س-تی)اسم صفت- واحد- مؤنث- هغه هندوه ښځه چې د مړ خاوند د پاره بل شوی اور کښې پهٔ ژوندئ خان وسیزی-
ستی:(ستی)اسم- مؤنث- دوایې کښې پکارېدونکے یو قسم بوټے- شاتره- شاه تره-
سټ:(سټ)اسم صفت- تباه- برباد- هلاک-
سټاره:(سټا-ره)اسم- واحد- مؤنث- دا کلمه دَ نسولې سره یو ځائې راځي لکه سوله سټاره ئې سره وکړه- (افغانستان)-
سټاله:(س-ټا-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سټل-
سټ سمټ:(سټ-س-مټ)اسم صفت- بېکاره- لټ- سُست- نارسته-
سټک:(س-ټک-س-ټک)اسم- واحد- مذکر- د لرګی او اُسپنې هغه مشترکه اوزار چې مېخ وغېره پرې تکوهلے شي-
سټکورے:(سټ-کو-رے)اسم- واحد- مذکر- (۱)نیم سوے لرګے یا ووبی- (۲)بېخ- وبخ- بنیاد-
سټل:(س-ټل)اسم- واحد- مذکر- مجموعی طور- یک مشت- ببحی- ګرده- په یوه مخه- سټاله- سټله-
سټوپ:(سټوپ)اسم- واحد- مذکر- د خاورو دَ تېلو نغرے- (م- انګریزی سټو)
سټ وټ:(سټ-وټ)اسم صفت- تباه برباد- خوار و زار- هلاک-
سټوډیو:(سټو-ډی-یو)اسم- واحد- مذکر- هغه مخصوص ځائې چې دَ ریډیو، ټېلی وژن یا فلم اداکاران او صداکاران پکښې دَ خپل فن او هنر مظاهره کوی- (م- انګریزی)-
سټوکمار:(سه-ټوک-مار)اسم- واحد- مذکر- هغه سړے چې دَ سر دَ وېښتو څهٔ حصه ئې پهٔ تندی پرته وی- مؤنث سټوکماره-
سټوکے:(سه-ټو-کے)اسم- واحد- مذکر- د سر دَ وېښتو هغه برخه چې پاس پهٔ تندی پرته وی-

سټول:(سه-ټ-ول)مصدر متعدی- تباه کول- برمادول- ورانول- ګډوډول- ګډوډ کول-
سټون:(سه-ټه-ون)حاصل مصدر- وګورئ سټول-
سټونکے:(سه-ټه-وون-کے)اسم فاعل- جمع سټونکی- مؤنث سټونکې- وګورئ سټول-
سټونګ:(سه-ټه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سټول-
سټونه:(سه-ټه-وه-نه)حاصل مصدر- وګورئ سټول-
سټېشن:(سټې-شن)اسم- واحد- مذکر- د اورګاډی د اودرېدو او روانېدو ځائې-
سجاد:(سج-جاد)اسم فاعل- سجده کونکے- خدائې ته سر ښکته کونکے- ډېری سجدی کونکے-
سجاده:(سج-جا-ده)اسم- واحد- مؤنث- دَ مونځ کولو ځائې- جائې نماز- جانماز- مصله- (م- عربی)-
سجاده نشین:(سه-جا-ده-نه-شین)اسم- د پیر خلیفه یا نائب- هغه سړے چې د مړ په ګدی ناست وی-
سجده:(سج-ده)اسم- واحد- مؤنث- په زمکه تندے لګونه- خدائې ته سر ټیټونه- (م- عربی)-
سجره:(سر-ج-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ شجره-
سجره:(سج-ره)اسم- د وزری کلکدمه-
سجع:(سه-جع)اسم- واحد- مؤنث- (۱)قافیه بند شعر- مقفٰی کلام- قافیه لرونکې خبرې- (۲- اسم صوت)چغهارے- بلغاک- (م- عربی)-
سجل:(س-جل)اسم- واحد- مذکر- (۱)اقرارنامه- عهدنامه- اقرار لیک- احکام نامه- (۲)د قاضی تحریری فیصله- (م- فارسی)-
سجنجل:(س-جن-جل)اسم- واحد- مذکر- ایندارہ- آئینه- هنداره- (م- فارسی)-
سجن:(س-جن)اسم- واحد- مذکر- دوست- ملګرے- معشوق- (م- هندی)-
سجود:(س-جود)مصدر اسم- سجده کونه- خدای ته سر ټیټونه- دَ سجده جمع-
سجیل:(س-جیل)اسم- واحد- مذکر- تحقیق- پته- لټون- پُرس- تپوس-
سجیه:(س-جی-یه)اسم- واحد- مؤنث- خوئ- طبیعت- مزاج- طبع- خُلق- غونے- اخلاق- خصلت- عادت- (م- فارسی)-
سځنی:(سځ-نی)اسم- واحد- مؤنث- سیزنی- د تارونو یا کپړې نه جوړ هغه پړے چې ماشوم پرې اوربی کښې تړی-
سچ:(سچ)اسم- واحد- مذکر- (۱)خالص- اصل- سوچه- (۲)ښځی- ټول- ګرد-
سچه:(س-چه)اسم- واحد- مؤنث- د سچ مؤنث- وګورئ سچ- (م- هندی)-
سخ:(سخ)اسم صفت- ګوډ- بېږ- ګن- (افغانستان)-
سخه:(سه-خه)اسم- واحد- مؤنث- د مېرزی ستنه- د مېرزی د بېخ عته- د مېرزی بېخ-
سحاب:(س-حاب)اسم- واحد جمع- مذکر- ورېځ- اوربخ- لړه- زړیخ-

ی (ښی-رل)، ، ٥ ہ-ره-ول ، ی (ډیا-لی) ، ˆ(تن-دی) تفصیل د پاره وګورئ تشر ، صفحه ۱

www.pukhto.net

(م- عربي)-

سحار:(سَ-حار)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سحر-

سحر:(س-حر)اسم- واحد- مذکر- (۱)سحار- د ورځې اولنی حصه- د ورځې ابتدا- (۲)رڼا-

سحر:(س-حر)اسم- واحد- مذکر- کوډې- جادو- منتر- افسون-

سحربیان:(س-حر-بیان)اسم- هغه مقرر یا شاعر چې وینا يې پیر تاثیر لري-

سحرآمیز:(س-حر-آ-میز)متعلق فعل صفت- مرغوب- د سحر نه ډک- د جادو نه ډک-

سحردم:(س-حَر-دم)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سحرګاه-

سحرګاه:(سَ-حر-ګاه)اسم- واحد- مؤنث- سحردم- دَ سحر وخت- صبح دم- سحرمال-

سحرګر:(س-حر-ګر)اسم صفت- سَحر کونکے- جادو کونکے- افسون کر- منترى-

سخ:(سخ)اسم- واحد- مذکر- (۱)بخت- نصیب- طالع- (۲)خوشحالي- خوش نصیبي-

سخا:(سَ-خا)اسم- واحد- مؤنث- فیاضي- بخښنه- دَ خدای په نوم بې کچه خیر خیرات ورکونه-

سخا:(سَخا)اسم صفت- ناؤلے- ګنده- خیرن- بدبویه- چټل-

سخات:(سخات)اسم- واحد- مذکر- اسقاط- د مړی د جنازې نه پس د هغه نه د پاتې شویو لمونځونو او روژو د کفارې ادا کولو په غرض په حاجت مندو نغدې پیسې یا نور څه خیرونه وېشتنه-

سخاتوب:(سخا-توب)اسم- واحد- مذکر- ګنده والے- چټلتیا- خیرن توب-

سخاوالے:(سَخا-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سخاتوب-

سخاوت:(سَ-خا-وَت)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سخا-

سخاوره:(سَخاو-ره)اسم- واحد- مؤنث- سخاوړه- خساوره- خساوړه- دَ زنبق د ګل ریښه-

سخت:(سَخت)اسم- واحد- مذکر- (۱)کلک- مضبوط- ټینګ- محکم- (۲)ګران- مشکل- اړ-

سختاړ:(سخ-تاړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)نرمې پخې شوې لبټی شان وریژې- بټې وریژې- یو قسم لېټی- (افغانستان)-

سختاړول:(سخ-تا-ړ-ول)مصدر متعدی- لبټی کول- ابلنول- خوړبېول- پېر پرمول-

سختاړون:(سخ-تا-ړ-ون)حاصل مصدر- وګورئ سختاړول-

سختاړونکے:(سخ-تا-ړ-وون-کے)اسم فاعل- جمع سختاړونکی- مؤنث سختاړونکې- وګورئ سختاړول-

سختاړونګ:(سخ-تا-ړ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سختاړول-

سختاړونه:(سخ-تا-ړ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ سختاړول-

سختاړوَه:(سخ-تا-ړ-وَه)حاصل مصدر- وګورئ سختاړول-

سختاړېدل:(سخ-تا-ړې-دل)مصدر لازم- لبټی کېدل- ابلنېدل- خوړېنېدل- شیره کېدل-

سختاړېدن:(سخ-تا-ړې-دن)حاصل مصدر- وګورئ سختاړېدل-

سختاړېدنګ:(سخ-تا-ړې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سختاړېدل-

سختاړېدنه:(سخ-تا-ړې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ سختاړېدل-

سختاړېدونکے:(سخ-تا-ړې-دون-کے)اسم فاعل- جمع سختاړېدونکی- مؤنث سختاړېدونکې- وګورئ سختاړېدل-

سختاړېدَه:(سخ-تا-ړې-دَه)حاصل مصدر- وګورئ سختاړېدل-

سخت دل:(سخت-دل)اسم صفت- (۱)په زړه سخت- نه ویرېدونکے- (۲)بې رحم- ظالم-

سخت ګیر:(سخت-ګیر)اسم صفت- د تکلیفاتو مقابله کونکے-

سخت مزاجه:(سخت-م-زا-جه)اسم صفت- سخت طبع- تېزخویه- بدخویه- تریخ خویه-

سختوالے:(سخت-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- کلکوالے- محکم والے- ټینګوالے-

سختول:(سخ-تو-ول)مصدر متعدی- (۱)کلکول- ټینګول- محکمول- (۲)مشکلول- (۳)تېزول-

سختون:(سخ-تو-ون)حاصل مصدر- وګورئ سختول-

سختونکے:(سخ-تو-وون-کے)اسم فاعل- جمع سختونکی- مؤنث سختونکې- وګورئ سختول-

سختونګ:(سخ-تو-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سختول-

سختونه:(سخ-تو-ونه)حاصل مصدر- وګورئ سختول-

سختوَه:(سخ-تو-وَه)حاصل مصدر- وګورئ سختول-

سخته:(سخ-ته)اسم- واحد- مؤنث- تکلیف- مشکل- بده ورځ- ګړاؤ- ګړاله- د سخت مؤنث-

سختي:(سخ-تي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)تکلیف- مشکلات- تنګسه- خواري- (۲)کلکوالے- ټینګوالے-

سختیا:(سخ-تیا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سختوالے-

سختېدل:(سخ-تې-دل)مصدر لازم- (۱)کلکېدل- ټینګېدل- (۲)مشکلېدل- ګرانېدل- (۳)تېزېدل-

سختېدن:(سخ-تې-دن)حاصل مصدر- وګورئ سختېدل-

سختېدنګ:(سخ-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سختېدل-

سختېدنه:(سخ-تې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ سختېدل-

سختېدونکے:(سخ-تې-دون-کے)اسم فاعل- جمع سختېدونکی- مؤنث سختېدونکې- وګورئ سختېدل-

سختېدَه:(سخ-تې-دَه)حاصل مصدر- وګورئ سختېدل-

سخر:(سخر)اسم- واحد- مذکر- خسر- دَ ښځې پلار- دَ خاوند پلار-

سخرګنی:(سخر-ګ-ني)اسم- واحد- مؤنث- د سخر کور- دَ سخر خپل

زور:(ح-مبه-ره)، ووړکے:(شل)، زېر:(نو-کا-ره)، زور:(ک-تاب)، پېښ:(شکون)، ه:(ر-په)، ۀ:(پو-هې-دۀ)

www.pukhto.net

خېلوان- خسرګنې-

سخره:(سخـه-ره)اسم- واحد- مؤنث- په غرونو کښې زرغونېدونکې يو خودرو بوټې-

سخره غټه:(سخـره-غ-ټه)اسم- واحد- مؤنث- کلکه شوې غټه- سخته شوې غټه- هغه غټه چې په اسانه نه شي سپړدې-

سخره:(سخ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مزې چړچې- عيش عشرت- (۲)د چارې رسې (پړې)- (۳)سربوڼدې- سربلته- (۴)د ولې يا کاريز کنستلو عمله- ټر-

سخکال:(سخ-کال)اسم- واحد- مذکر- سږکال- روان کال- موجوده کال-

سخن:(س-خن)اسم صفت- واحد- مذکر- نېک بخت- خوش قسمته- طالع من- نېک مرغه- سخور-

سخن:(س-خن)اسم- واحد/جمع- مذکر- (۱)خبرې اترې- خبره- (۲)قول- شعر- نظم- غزل- (م- فارسي)-

سخوبې:(سخو-بې)اسم- واحد- مذکر- بېلې- زبونه-

سخوټ:(سخوټ)اسم- غټ منډ سړې- (افغانستان)-

سخوتن:(سخو-تن)اسم- واحد- مذکر- ګرمه ايره- ايره خول- پرندې-

سخور:(س-خ-ور)اسم صفت- بختور- بېکمرغه- نېک بخته- سخن-

سخوريز:(سخو-ريز)اسم- د پېڅې د ساګ په شان يو بوټې- (افغانستان)-

سخورنې:(سخور-نې)اسم- واحد- مذکر- د سخوريز د بوټي بېخ- (افغانستان)-

سخوښتې:(سخوښ-تې)اسم- (۱)د خلې کنج- (۲)ماکو- (افغانستان)-

سخوندر:(سخون-در)اسم- واحد- مذکر- خوان غوايه- هغه خوان سخې چې په غاښ دوه يا څلور وي- مؤنث سخوندره- جمع سخوندران-

سخوندرکې:(سخون-در-کې)اسم تصغير- وګورئ سخوندر-

سخه:(سه-خه)اسم- واحد- مؤنث- کينه- حسد- رخه-

سخهار:(سخ-هار)اسم صوت- د سخ سخ آواز- د پېڅو يا بل څه څيز د راکښلو آواز-

سخي:(س-خي)اسم صفت- د خداې په نوم بې دريغه خير زکوة ورکونکې-

سخي توب:(س-خي-توب)اسم- واحد- مذکر- د سخي سړي عمل او کردار-

سخې:(سخې)اسم- واحد- مذکر- د غوا بچې- خوسې- مؤنث سخۍ- جمع سخي-

سد:(سد)اسم- واحد- مذکر- عقل- هوش- زيا- خود-

سد:(سد)اسم- واحد- مذکر- (۱)ميوال- (۲)د ټوپک د شپېلۍ رخې- (۳)خنو-

سد بد:(سد-بد)اسم- واحد- مذکر- عقل فکر- هوش و حواس-

سدره:(سد-ره)اسم- واحد- مؤنث- شکرانه- قلنګ-

سدرې:(سد-رې)اسم- واحد/جمع- مؤنث واسکټ- ټېرې-

سدکاز:(سد-کاز)اسم- واحد- مذکر- د ستونو بيمارې- هيضه-

سدول:(سد-ول)اسم صفت- واحد- مذکر- چيت سړې- لنډې سړې-

ټېټ سړې- :

سړول:(س-ړول)اسم- واحد- مذکر- (۱)زوړ او بوډا غوڼې- (۲)مجازاً جاهل سړې-

سر:(سر)اسم- واحد- مذکر- (۱)کهړى- ککرى- کوپړى- د سر کاسه- (۲)کوکه- د څه څيز پورتنې حصه يا برخه- (۳)خوا- اړخ- طرف- پلو- د تلې يو طرف- (۴)مخکښې- مخه- (۵)شروع- اول-

سر:(سر)اسم- واحد- مذکر- راز- پټ- پناه- د علانيت ضد- (م- عربي)-

سُر:(سُر)اسم- واحد- مذکر- (۱)جُرت- طبيعت- (۲)د سندرو د علم موضوع- راګ- آواز-

سراب:(سه-راب)اسم- واحد- مذکر- دوکه- دهوکه- د سختې ګرمى له کبله د شګې هغه خلق چې د اُبو ګومان پرې کيږي-

سراپا:(س-را-پا)متعلق فعل- سرنه تر پښو پورې- ټېخې- بالکل- سراسر- (م- فارسي)-

سراج:(س-راج)اسم- واحد- مذکر- زين جوړونکې او خرڅونکې-

سراچه:(س-را-چه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)هغه غټه (زخه) چې د انګورو په څانګو باندې کيږي- (۲)هغه کېږه چې د قرآن شريف کليو ته اچولې شي-

سراچه:(س-را-چه)اسم- واحد- مؤنث- وړوکې کور- زړه سراې-

سراسر:(س-را-سر)متعلق فعل- ټول- په جمع- سر تر پايه- د اول نه تر آخره- سراپا-

سرارو:(سه-را-رو)اسم- واحد- مذکر- د لاس رګ- شريان-

سراسرى:(س-را-س-رى)متعلق فعل- وګورئ سراسر-

سراښ:(سراښ)اسم صفت- لالچى- حريص- بې صبره- ناشکره- نه مړېدونکې-

سراښتوب:(سراښ-توب)اسم- واحد- مذکر- سراښتيا- سراښوالې- حرص- لالچ- بې صبري-

سراښتيا:(سراښ-تيا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سراښتوب-

سراښند:(سرا-ښند)اسم صفت- وګورئ سراښ-

سراښوالې:(سراښ-والې)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سراښتوب-

سراښول:(سرا-ښ-ول)مصدر- څوک په څه خبره يا کار ټينګول- ترغيبول- تحريصول- (افغانستان)-

سراښون:(سرا-ښ-ون)حاصل مصدر- وګورئ سراښول-

سراښونکې:(سرا-ښ-ون-کې)اسم فاعل- جمع سراښونکي- مؤنث سراښونکې- وګورئ سراښول-

سراښونګ:(سرا-ښ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سراښول-

سراښونه:(سرا-ښ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ سراښول-

سراښې:(سرا-ښې)اسم- واحد- مؤنث- (۱)لالچ- حرص- سراښتوب- (۲- صفت)لالچي- حريص-

سراښېدل:(سرا-ښې-دل)مصدر لازم- حريصېدل- نه مړېدل- ترغيبېدل-

سراښېدن:(سرا-ښې-دن)حاصل مصدر- وګورئ سراښېدل-

www.pukhto.net

سراښېدنګ:(سرا-ښې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ سراښېدل-

سراښېدنه:(سرا-ښې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ سراښېدل-

سراښېدونکے:(سَرا-ښې-دُون-کے)اسم فاعل- جمع سراښېدونکي- مؤنث سراښېدونکې- وګورئ سراښېدل-

سراښېده:(سرا-ښې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ سراښېدل-

سراغ:(سَ-راغ)اسم- واحد- مذکر- نښه- پته- نښه پته- درک-

سراغ رسان:(سَ-راغ-رَ-سان)اسم صفت- پته لګونکے- معلومات کونکے-

سراغ رساني:(سَ-راغ-رَ-سا-ني)اسم- د سراغ رسان کار-

سرانجام:(سَر-اَن-جام)اسم- واحد- مذکر- کونه- پوره کونه- انجامونه- پای ته رسونه- ختمونه- پای- (م- فارسي)-

سرانګه:(سَرانګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- ځانګه- ښانګه- خرانګه- ګانګوړی- جمع سرانګې- (افغانستان)-

سرانه:(سَ-را-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ دروازې پورتنۍ درشل- (۲)دَ سرې په سر پېسې ټولونه-

سرانه:(سَ-را-نه)اسم- واحد- مؤنث- سر- دَ کټ سره- سر ته- سر خوا ته-

سراو:(سَ-راو)اسم صفت- په سر کښې- اولنے- وړومبے-

سراوره:(سَ-راو-ره)اسم- واحد- مؤنث- ګډه ګوڼه- هجوم- جټ- رش-

سرامند:(سَرا-مَند)صفت- لالچي- ضدي- هغه څوک چې په مره حبره سر خوروي- سرشند-

سرایت:(سِ-را-یت)اسم- واحد- مذکر- (۱)اثر- تاثیر- (۲)د یو څیز په بل څیز کښې دننه تلنه-

سرایه:(سَرا-یه)اسم- واحد- مؤنث- سرای- دنیا-

سرایْ:(سَرایْ)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کور- پېره- (۲)دَ مسافرو د شپې تېرولو ځای-

سربادی:(سَر-با-دی)اسم صفت- هغه لېونتوب چې دَ خشکۍ په وجه پیدا کېږي-

سربادے:(سَر-با-دے)اسم صفت- لېونے- عبث غوږېدونکے- اهلمي ویونکے- هغه څوک چې دَ خشکۍ له کبله لېونے شوے وي-

سرباز:(سر-باز)اسم صفت- فوځي- سپاهي- عسکر- سرښندونکے- د ملک او قوم دَ پاره دښمن سره جنګ کونکے- جګړن- سرتېرے- (م- فارسي)-

سربازو:(سَر-با-زو)اسم- سر اوږ ته- سر ته- هغه بازو چې د کټ سر ته وي-

سربازي:(سر-با-زي)اسم- واحد- مؤنث- د سر قرباني ورکونه- سرښندنه- له سره تېرېدنه-

سربالا:(سَر-با-لا)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- (۱)دَ سر دَ پاسه- (۲)کامیاب- کامران-

سربانده:(سر-بان-ده)اسم- واحد- مؤنث- دَ پټي هغه لوه شان حصه چې د اړولو نه پاتې شوې وي-

سربانډے:(سَر-بان-ډے)اسم- واحد- مذکر- دَ دېوال په سر دَ لرګيو چچه چې دېوال پرې له بارانه بچ کېږي-

سربانده:(سر-بان-ده)اسم- واحد- مؤنث- سربانډے- سربانه- هغه پړے چې د کچه ځرمنې، رسۍ یا مزرۍ نه جوړېږي- هغه رسۍ چې دَ یوې ترلو دَ پاره پکارولے شي-

سربانړے:(سر-بان-ړے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سربانړه-

سربانه:(سَر-با-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سربانړه- جمع سرباني-

سربدال:(سر-بَ-دال)اسم صفت- کنګال- بې حاله- بې خوده-

سربدالي:(سر-بَ-دا-لي)اسم- واحد- مؤنث- کنګالتوب- بېحالي- بې خودي-

سربېواګه:(سر-بې-وا-ګه)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)بې پروا- اواره ګرد- لغړ- (۲- اسم)فصول خرچ-

سربېوال:(سر-بې-وال)اسم صفت- سر وهلي- ترهور-

سربر:(سر-بَر)اسم صفت- یو شان- برابر- هم وزن-

سربراه:(سر-بَ-راه)اسم- واحد- مذکر- مشر- د یو تنظیم مشر- منتظم- ناظم- د سر سړے- ناظم- (م- فارسي)-

سربسته:(سر-بَس-ته)اسم صفت- پټ شوے- تالا شوے- بند شوے- قفل شوے-

سربشت:(سر-بِشت)اسم- وجنه جدمه-

سربلند:(سَر-بُ-لَند)اسم صفت- سرفراز- سرلوړے- شمله جګے- دَ عزت و آفرین خاوند- (م- فارسي)-

سربلندي:(سر-بُ-لَن-دي)اسم- واحد- مؤنث- سرلوړي- سرفرازي- عزتمندي-

سربند:(سَر-بَند)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه بند چې سېند یا خوړ ته اچولے کېږي- سرورخ- وتے- (۲)هغه رومال چې سر پرې تړلے شي- (م- فارسي)-

سربندی:(سر-بَن-دی)اسم- واحد- مذکر- د جینۍ لاس نیوے- دَ جینۍ خوښونه- جینۍ غوره کونه- کوژدن کونه-

سربندے:(سَر-بَن-دے)اسم- وګورئ سربندے-

سربوټے:(سر-بو-ټے)اسم- واحد- مذکر- نولے- خربوږے- هر رنګ لرونکے د مرۍ مومره یو ځناور چې دَ مار سره جنګ ئې ډېر مشهور دے-

سربه:(سَر-به)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مرداره- لاش- سخا شوے لاش- سره درنګه- (۲)غوښه قصابي شوے- سرمله-

سربیعه:(سر-بې-عه)اسم- واحد- مؤنث- د سر قیمت-

سربېرن:(سَر-بې-رَن)اسم- واحد- مذکر- برګېرن- برسېرن- پورته والے- زیاتي والے- بانډي والے-

سربېره:(سر-بې-ره)اسم- واحد- مؤنث- زیاتي- علاوه- دَ پاسه- پورته- باندې-

سرپ:(سرپ)اسم- واحد- مذکر- یو عرنیزه ونه-

سرپ:(سرپ)اسم صوت- په دام کښې د کېرېدو سره یس د مرغۍ د وزرو

www.pukhto.net

وطو آواز-

سرپ:(سېرپ:س-رپ)اسم- د صرف غلط قرائت- وګورئ صرف-

سرپاوے:(سَر-پا-وے)اسم- واحد- مذکر- د سر او مخ د پرېښېدو يو قسم بيماري- سرپاے-

سرپاغے:(سَر-پا-غے)اسم- وګورئ سرپاوے-

سرپټنوس:(سَر-پټ-نوس)اسم- د پټنوس د پاسه اچونکے رومال- پټنوس پوښ-

سرپټه:(سر-پټ-ټه)اسم صفت- (۱)سرمه ښخه- پرده داره ښخه- (۲)ناوارهٔ ښځه چې چا ليدلې نهٔ وي-

سرپرست:(سر-پ-رست)اسم صفت- ساتندويه- ځارونکے- ساتونکے- نګهبان- محافظ- د يوې ادارې يا ستظيم مشر- (م- فارسي)-

سرپرستي:(سَر-پ-رَس-تي)اسم- واحد- مؤنث- نګهباني- حفاظت- ساتنه- مشري-

سرپړي:(سَر-پړي)اسم صفت- وګورئ سر پرېکړے-

سر پرېکړے:(سر-پرې-کړے)اسم صفت- چې سر ترې پرېکړے شوے وي- چې سر ترې قلم کړے شوے وي-

سرپړے:(سر-پړے)اسم- واحد- مذکر- د ساځ د خاندان يو قسم مرغئ چې وزرونه ئې سرهٔ او نور بدن ئې تور وي-

سرپک:(سر-پک)اسم- سرسري- سطحي-

سرپناه:(سَر-پ-ناه)اسم- واحد- مؤنث- د سر پټولو ځائ- کور- ډېره- (م- فارسي)-

سرپناهي:(سَر-پ-نا-هي)اسم- واحد- مؤنث- د پټېدو ځاي- پناه ګاه-

سرپوښ:(سر-پوښ)اسم- واحد- مذکر- (۱)سرپوش- برغولے- سربند- (۲)يو قسم ټوپک چې يوولس کارتوس خوري- ۳۰۲ رائفل- ترې ناټ ترې ټوپک- ترې ناترې-

سرپول:(سَر-پ-ول)مصدرِ متعدي- مرغئ پرول- مرغئ د وزرو په رپولو راوستل- د مرغئ پرار کول-

سرپون:(سَر-پ-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ سرپول-

سرپونکے:(سر-پ-ون-کے)اسم فاعل- جمع سرپونکي- مؤنث سرپونکې- وګورئ سرپول-

سرپونګ:(سر-پ-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ سرپول-

سرپونه:(سَر-پ-و-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ سرپول-

سرپوهٔ:(سر-پ-وهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ سرپول-

سرپه:(سر-په)اسم- واحد- مؤنث- (۱)صرفه- دريغ- مخ اړول- (۲)اشتها-

سرپهار:(سَر-پ-هار)اسم صوت- د مرغئ د وزرو وطو آواز- پرهار- پرار-

سر په سر:(سر-په-سر)متعلق فعل- يو شان- يو برابر- مساوي-

سرپېدل:(سَر-پې-دل)مصدرِ لازم- پرکېدل- پرتېدل- د مرغئ په لومه کښې د ګېرېدو په وخت د وزرو وطو آواز پيدا کېدل-

سرپېدلے:(سر-پې-دلے)اسم مفعول- جمع سرپېدلي- مؤنث سرپېدلې- وګورئ سرپېدل-

سرپېدن:(سر-پې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ سرپېدل-

سرپېدنګ:(سَر-پې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ سرپېدل-

سرپېدنه:(سَر-پې-دنه)حاصلِ مصدر- وګورئ سرپېدل-

سرپېدونکے:(سَر-پې-دون-کے)اسم فاعل- جمع سرپېدونکي- مؤنث سرپېدونکې- وګورئ سرپېدل-

سرپېدهٔ:(سر-پې-دهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ سرپېدل-

سرپيوند:(سَر-پي-وند)اسم- واحد- مذکر- په يوه (يوې) کښې هغه لرګے چې سر کښې ئې ښورے وي-

سَرت:(سَ-رت)اسم- واحد- مذکر- (۱)سرود- ساز- ټنګ ټکور- (۲)بدن- صورت-

سرتا:(سَر-تا)اسم- واحد- مؤنث- د ښځو د پرونې پيڅو ته ګنډلے شوې ريښمينه پوټه-

سرتاج:(سر-تاج)اسم صفت- (۱)خاوند- مېړهٔ (۲)د مينې توړے-

سر تا سر:(سَر-تا-سَر)متعلق فعل- وګورئ سراسر-

سرتاږ:(سر-تاږ)اسم- واحد- مذکر- سرکښي- سرکشي- سرغړونه-

سر تر پايه:(سَر-تَر-پا-يه)متعلق فعل- سر نه تر پښو پورې- ټول- سراسري-

سر تر سره:(سَر-تَر-سَ-ره)متعلق فعل- وګورئ سراسر-

سرتړلے:(سر-تړ-لے)اسم صفت- سرپټے- سربسته- پټ-

سرترنے:(سَر-ت-رنے)اسم- واحد- مذکر- رومال- سرپيچک- هغه رومال چې سر پرې تړلے شي- دسمال-

سرتمبکي:(سر-تم-به-کي)اسم- واحد- مؤنث- ضد- ځېل- سرکشي-

سرتمبه:(سر-تم-به)اسم صفت- واحد- مذکر مؤنث- سرکش- ضدي- ځېل ناک-

سرتناو:(سر-ت-ناو)اسم- واحد- مذکر- د مرزانو د جال هغه پړے چې د جال په يو سر کښې وي او جال پرې راکښلے شي-

سرتور:(سر-تور)اسم صفت- (۱)چې سر ئې ګوڅند وي- سرلوڅ- سربربنډے- (۲)بې عزته- ذليل- شرمنده-

سرتوروالے:(سَر-تور-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- بې عزتي- ذليلي- خواري- شرم-

سرتورول:(سر-تو-ر-ول)مصدر متعدي- (۱)سر ښکاره کول- سر لوڅول- سر بربنډول- (۲)بې عزته کول- شرمول- خوارول- ذليله کول-

سرتورون:(سر-تو-ر-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ سرتورول-

سرتورونکے:(سَر-تو-ر-ون-کے)اسم فاعل- جمع سرتورونکي- مؤنث سرتورونکې- وګورئ سرتورول-

سرتورونګ:(سر-تو-ر-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ سرتورول-

سرتورونه:(سر-تو-ر-و-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ سرتورول-

ئ: (ئې-رل)، ي: (هي-ره-ول)، ئ: (هيا-لي)، يې: (تن-حي) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

سرتوروهٔ:(سَر-تو-رَ-وه)حاصلِ مصدر- وګورئ سرتورول-
سرتوره:(سر-تو-ره)اسم صفت- دَ سرتور مؤنث- وګورئ سرتور-
سرتوری:(سر-تو-ري)اسم- واحد- مؤنث- (۱)بې عزتي- سپکوالے- (۲)کنپتون- کنپتوب-
سرتورېدل:(سَر-تو-رې-دل)مصدرِ لازم- (۱)بې عزته کېدل- سپکېدل- شرمېدل- خوارېدل- (۲)مېږهٔ مړ کېدل- کنپېدل-
سرتورېدن:(سَر-تو-رې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ سرتورېدل-
سرتورېدنګ:(سَر-تو-رې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ سرتورېدل-
سرتورېدنه:(سر-تو-رې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ سرتورېدل-
سرتورېدونکے:(سَر-تو-رې-دُون-کے)اسمِ مفعول- جمع سرتورېدونکي- مؤنث سرتورېدونکې- وګورئ سرتورېدل-
سرتورېدهٔ:(سَر-تو-رې-دهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ سرتورېدل-
سرتورے:(سَر-تو-رَے)اسم صفت- سرتور- (۱)سرلوڅے- (۲)بې عزته-
سرتونے:(سَر-تو-نے)اسم- وګورئ سرتوونے-
سرتېر:(سر-تېر)اسمِ صفت- بهادر- د سر پروا نهٔ کونکے- مؤنث سرتېره- (م- فارسی)-
سرتېری:(سر-تې-ري)اسم- واحد- مؤنث- بهادری- شجاعت- مېړانه-
سرتېز:(سر-تېز)اسم صفت- وګورئ سرتېزه- (م- فارسی)-
سرتېزه:(سر-تې-زه)اسم صفت- تندخویه- هغه څوک چې سرتېزي کوي-
سرتے:(سَ-رَ-تے)اسم صفت- سرګردانَ- تلولے- وارخطا- ترهور-
سرټيټي:(سر-ټي-ټي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)اطاعت- عجز- انکساری- (۲)بدنامي- بې عزتي-
سرټيټے:(سَر-ټي-ټے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)اطاعت ګزار- عاجز- منکسر- (۲)بدنام- بې عزته-
سرج:(سَرج)اسم- واحد- مذکر- زين- دَ اس زين-
سرجمع:(سَر-جَمع)صفت- ټول- ټنټ- وارهٔ- ګرد-
سرجن:(سَر-جن)اسم صفت- هغه ډاکټر چې دَ اپرېشن پهٔ ذريعه علاج کوي- (م- انګريزی)-
سرجی:(سَر-جی)اسم صفت- زين جوړونکے- زين څرڅونکے-
سرخوړ:(سَر-خوړ)اسم صفت- سرټکته- سرلاندې- سرخوړند-
سرچشمه:(سَر-چش-مه)اسم- واحد- مؤنث- سرچينه- هغه ځاے چرته چې اوبهٔ راوځي- منبع- (م- فارسی)-
سرچينه:(سَر-چي-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سرچشمه-
سرحد:(سَر-حد)اسم- واحد- مذکر- بريد- پوله- حد- وېش- د دوو ملکونو دَ علاقې مشترک حد- (م- فارسی)-
سرحدی:(سَر-حَ-دي)صفت- دَ سرحد سره متعلق- وګورئ سرحد-
سرحلقه:(سر-حل-قه)اسم صفت- سردار- مشر- سرخېل- رئيس- (م- فارسی)-
سرخ:(سرخ)اسم- وګورئ فالګ-

سرخا:(سَر-خا)اسم- واحد- مؤنث- دَ سترګو وړه ننکی- غلنکې-
سُرخاب:(سُر-خاب)اسم- واحد- مذکر- يو قسم دَ اُبو مرغی چې ټوله شپه دَ جهلې مادې نه جُدا وي- سريخ- سرخاوی-
سرخار:(سر-خار)اسم- واحد- مذکر- دَ غنو شپول- دَ غنو دېوال- شپول-
سرخاوی:(سر-خا-وی)اسم- واحد- مؤنث- سريخ- سرخاب-
سرخ باد:(سُرخ-باد)اسم مذکر- دَ يو مرض نامه چې پهٔ وجود سره لمبه راشي-
سرخچه:(سرخ-چه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)هغه سور زردالو چې تريو خوند لري- (۲)يو قسم غنم-
سرخرکه:(سر-خر-ره-که)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم مارغهٔ چې دَ وړو مارغانو مارغهٔ خوري- کله خورکه-
سرخرو:(سُرخ-رو)اسم صفت- کامياب- کامران- فاتح- ګټونکے- (م- فارسی)-
سرخروئ:(سرخ-رو-ئ)اسم- واحد- مؤنث- کاميابي- کامراني- فتح- ګټه-
سرخط:(سَر-خط)اسم- واحد- مذکر- دَ يو مضمون يا کتاب نوم- سُرخي- (۲)عت خبر- خاص خبر- سرنامه- سرليک-
سرخک:(سر-خک)اسم- يو قسم بوټے-
سرخکه:(سر-خَ-که)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ خرخکه-
سرخووی:(سر-خو-وي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ سر درد- (۲)تکليف- زحمت- موج-
سرخووے:(سر-خو-وے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سرخوری-
سرخول:(سَر-خَ-وَل)مصدرِ متعدی- غرخول- اچول- ګرزول- راسرخول- خرخول-
سرخول:(سر-خول)اسم- واحد- مذکر- د سر پټولو د پاره ټوپی يا څهٔ داسې بل شے-
سرخه:(سَر-خه)اسم- واحد- مذکر- (۱)سعند (آس)- (۲)ښکلے- سوربخن-
سرخی:(سر-خی)اسم- واحد- مؤنث- دَ زنانو دَ سينګار يو سور رنګ چې پهٔ شونډو او رخسارونو ې لګوي- (م- فارسی)-
سرخيے:(سر-خي-نے)اسم- واحد- مذکر- سرخيني چاړهٔ- دَ سر خرېلو چاړهٔ- پاکی-
سرخېل:(سر-خېل)اسم صفت- د خاندان يا قبيلې سربراه- مشر- سرلښکر- جمع سرخېلان- (م- فارسی)-
سردار:(سر-دار)اسم صفت- (۱)مشر- رئيس- اختيارمند- (۲)سپه سالار- د لښکر مشر- (م- فارسی)-
سردارو:(سر-دا-رو)اسم- واحد- مذکر- پاره- سيماب-
سرداری:(سر-دا-ري)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مشري- اختيارمندی- (۲)دَ لښکر مشري- سپه سالاری-
سرداری:(سَر-دا-ري)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم تماچه- ۲۸ بور تماچه- سرداری تماچه-

زبر "َ(ع-بيفـ-ره)، زورکے"ُ(شل)، پېښ"ُ(نو-کيا-سره)، زير "ِ(کسـتـاب)، جزم "ْ(شکون)، "ۀ"(ز-ږه)، "هٔ"(دو-سـبي-دهٔ)

سردانه:(سَر-دا-نه)اسم- واحد- مؤنث- دَ ولي دَ سر ورخ-

سردردي:(سَر-دَر-دي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)سرخوږی- (۲)ربړ- تکليف- مشکلات-

سرده:(سَر-دَ-ره)اسم- واحد- مؤنث- دَ دري سر- دَ دري لوړه برخه-

سردري:(سَر-دَ-ري)اسم- واحد- مؤنث- دَ دروازې دَ چوکاټ برنۍ لرګۍ-

سردست:(سَر-دست)متعلق فعل- في الحال- حضور- موجوده- حاضر وخت- سمدلاسه- دستي- (م- فارسي)-

سردوباره:(سَر-دَو-با-ره)اسم- دوباره دَ سره شروع کونه- په دويم ځل شروع کونه-

سرده:(سَر-ده)اسم- واحد- مؤنث- دَ خربوزې دَ خاندان يوه ميوه چې دَ يخنۍ په موسم کښې راځي-

سردي:(سَر-دي)اسم- واحد- مؤنث- يخني- دَ يخنۍ موسم- ژمے- دَ ګرمۍ ضد-

سررشته:(سر-رِش-ته)اسم- واحد- مؤنث- سرشته- سربښته- (۱)سمبالونه- تدبير- (۲)مطلب- مقصد- (۳)رواج- شعبه- محکمه- (م- فارسي)-

سرلښکر:(سَر-لښ-کَر)اسم صفت- جرنېل- سپه سالار- مشر- رئيس- دَ لښکر مشر-

سرزد:(سَر-زد)متعلق فعل- ظاهرېدنه- ښکاره کېدنه- په واکه کېدنه-

سرزمين:(سر-زَ-مين)اسم- واحد- مؤنث- ولايت- زمکه- وطن- ملک- هېواد- (م- فارسي)-

سرزنش:(سَر-زَ-نش)اسم- واحد- مذکر- ملامتيا- ملامتوالے- ترټنه- جزا ورکونه-

سرزور:(سر-زور)اسم صفت- سرټمبه- هوډے- ضدي- سرکشه- (م- فارسي)-

سرزوري:(سر-زو-ري)اسم- واحد- مؤنث- هوډه- سرکشي- سرټمبګي- نافرماني-

سرزوړند:(سَر-زَوَ-ړند)اسم صفت- سرخوړند- سرشکته- خوږ-

سرزوړه:(سَر-زَوَ-ړه)اسم صفت- تيټ شوے- خوښېدونکے ځاي-

سرزياتي:(سَر-زيا-تي)اسم- واحد- مؤنث- دَ خپل حق نه زياتي غېز- ځنګے-

سرزيري:(سَر-زي-ري)اسم مرکب- سرزوري-

سرژه:(سَر-ژه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سرږه-

سرږه:(سَر-ږه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)غرځنې ګېډه- (۲)مجازاً مضبوطه او تکړه ښځه-

سرس:(سرس)اسم- واحد- مؤنث- دَ يوې ونې نوم-

سرسام:(سَر-سام)اسم- واحد- مذکر- (۱)يو مرض دے چې دَ تبرې تبې له کبله پکښې دَ سرې مازغه کار پرېږدي- (۲- صفت)ګنګس- بې سُده- نيم پاګل- باسارے-

سرسايه:(سَر-سا-يه)اسم- واحد- مؤنث- دَ سر صدقه چې دَ ورکي اختر په موقع حاجتمندو ته ورکولے شي-

سرسبز:(سَر-سبز)اسم- واحد- مذکر- (۱)شين ګوشين- ښېراوه- (۲)آباد او خوشحال-

سر ستړکو:(سَر-ستَر-کو)اسم مرکب- په سر ستړکو- په خار قربان- په ډېره مينه- په ډېره خوښي- په پوره زړه-

سر سترګې:(سَر-ستَر-ګې)اسم مرکب- سر ښکې- سر غوړونه- ومنځونه- سترګې توړونه- ځان جوړونه او سينګارونه-

سرستغې:(سَر-ستَغ-غې)اسم مرکب- سرزوري-

سرسر:(سَر-سَر)اسم صوت- (۱)دَ مار پرشار- (۲)دَ هوا لګېدو آواز-

سرسري:(سَر-سَ-ري)اسم صفت- دَ سر دَ پاسه- سطحي- دَ اُبو دَ سر دَ پاسه- هغه څيز چې زمکه کښې ډېر ښخ نه وي- معمولي- لږ-

سرسري:(سَر-سَ-ري)اسم- واحد- مؤنث- توقه- دَ جوارو ورے چې دانې تري رژولے شوي وي- وګورئ توکه-

سرشار:(سَر-شار)اسم صفت- (۱)تر خُلې خُلې ډک- ژی په ژی- موړ- (۲)مست- خوشحال- (م- فارسي)-

سرشاري:(سَر-شا-ري)اسم- واحد- مؤنث- خوشحالي- آسودګي- مستي-

سرشانه:(سر-شا-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ اوږې سر- اوږګی- (۲)دَ اوږې پټۍ- (م- فارسي)-

سرشت:(سَ-رِشت)اسم- واحد- مذکر- پېدائشي خوئ خصلت- عادت- فطرت- مزاج-

سرشته:(سَ-رِش-ته)اسم صفت- وګورئ سررشته- سربښته-

سرشته دار:(سَ-رِش-ته-دار)اسم- واحد- مذکر- کتونکے- کلرک- بابو-

سرشوخ:(سَر-شوخ)اسم صفت- واحد- مذکر- مست- خوش طبع- زنده دل-

سرشي:(سَر-شي)اسم- واحد- مؤنث- دَ باجې دَ خاندان يوه مرغۍ-

سرښور:(سر-ښور)اسم صفت- سرزوره- سرکښه- سرکشه- ياغي- زوروړ-

سرطان:(سَر-طان)اسم- واحد- مذکر- کوني کبر- پنجه پار- کونيکړ- چنګاښ- يو آبي ځناور چې دَ چيندخې نه وړوکے او دَ جولاګۍ په نمونه وي- (۲)دَ آسمان ځلورم برج- (۳)يو موذي مرض چې دَ کېنسر په نامه مشهور دے-

سرعت:(سَر-عَت)اسم- واحد- مذکر- تُندي- تېزي- تلوار- بيړه- چټکتيا- تادي- جلتي-

سرغ:(سرغ)اسم- واحد- مذکر- زين- دَ آس زين- کاټي-

سرغاړے:(سَر-غا-ړے)اسم صفت- باغي- سرکش- نافرمان-

سرغړاند:(سَر-غَ-ړاند)اسم صفت- واحد- مذکر- باغي- سرکښ-

سرغړاندي:(سَر-غَ-ړان-دي)اسم- واحد- مؤنث- سرکشي- باغي توب- ياغي توب- نافرماني- تورغوږي-

سرغړاندے:(سر-غ-ړان-دے)اسم صفت- باغي- سرکش- نافرمان-

سرغړل:(سر-غَ-ړل)مصدر- وګورئ سرغړول-

سرغړول:(سَر-غَ-ړَ-ول)مصدر- بغاوت کول- نافرماني کول- اطاعت نه کول-

ی- (ښي-رل)، ې-(مې-رمه-ول)، ئ-(پيا-لئ)، ے-(تن-دے) تفصيل دَ پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

سرغړنه:(سر-غ-ړ-نه)اسم- سرکشي- نافرماني- بغاوت-

سرغړون:(سر-غ-ړ-ون)حاصل مصدر- وګوری: سرغړول-

سرغړونکے:(سر-غ-ړ-وون-کے)اسم فاعل- جمع سرغړونکي- مؤنث سرغړونکې- وګوری: سرغړول-

سرغړونګ:(سر-غ-ړ-ونګ)حاصل مصدر- وګوری: سرغړول-

سرغړوبه:(سر-غ-ړ-وه-به)حاصل مصدر- وګوری: سرغړول-

سرغړوني:(سر-غ-ړو-نی)اسم- مؤنث- سرغړاندی- سرکشي- بغاوت-

سرغشے:(سر-غه-شے)اسم- واحد- مذکر- وګوری: شرغشے-

سرغندے:(سر-غن-دے)اسم صفت- واحد- مذکر- سرغندوی- مشر- د سر سړے- لار ښودونکے- سرکرده- سرغنه-

سرغندوی:(سر-غن-دوی)اسم صفت- (۱)سرکرده- (۲)وګوری: سرغندے- (۲- اسم)یو قسم واښه-

سرغنده:(سر-غن-ده)اسم صفت- بې فکره- خود فراموش- وګوری: سرغندے- جمع سرغندیان-

سرغنه:(سر-غ-نه)اسم صفت- واحد- مذکر- سرغندوے- مشر- د سر سړے- لار ښود- سردار- (م- فارسی)-

سرغوبه:(سر-غو-به)اسم صفت- په اُبو کښې ډوب- پټ- ډوب-

سرفراز:(سر-فه-راز)اسم صفت- (۱)کامیاب- کامران- (۲)سرلوړے- عزت ګټونکے- فتح کونکے- (م- فارسی)-

سرفرازی:(سر-فه-را-زی)اسم- واحد- مؤنث- سرلوړی- فخر- عزت-

سرقت:(سر-قت)اسم صفت- پټ- ورک- بې درکه- سرقه-

سرقلے:(سر-قه-لے)اسم- واحد- مؤنث- پیشکشي- پیشګی- ایډوانس-

سرقه:(سر-قه)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: سرقت-

سرک:(س-رک)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: سړک-

سر کا:(سر-کا)امر- مخ کاږه-

سرکار:(سر-کار)اسم- واحد- مذکر- (۱)حکومت- د ملک واک اختیار- (۲)اختیاردار- کارفرما- (م- فارسی)-

سرکارمړ:(سر-کار-مړ)اسم صفت- سرکار مړ- د ګېډو رمو مشر مړ-

سرکاری:(سر-کا-ری)اسم- د سرکار سره تعلق لرونکے-

سرکاه:(سر-کاه)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم بښینه پړونے-

سرکپ:(سر-کپ)اسم صفت- (۱)سر پرېکونکے- سر ختمونکے- (۲- اسم)په سر کښې ربېنه-سرکو- (عام طور سره غنمو د پاره استعمالیږی)-

سرکتار:(سر-که-تار)اسم صفت- سرکښ-

سرکچوړه:(سر-که-چو-ړه)اسم- قمری- سرکچه-

سرکچه:(سر-که-چه)اسم- واحد- مؤنث- سرکچوړه- قمری- کوړکوړی- سپلمه- کوګوشتکه- کوکړی-

سرکردګی:(سر-کر-د-ګی)اسم- واحد- مؤنث- مشری- مشرتوب-

سرکرده:(سر-کر-ده)اسم صفت- سرغندوے- سرغندوی- سرغنه- (۱)مشر- د سر سړے- (۲)حاکم- آمر- (م- فارسی)-

سرکس:(سر-کس)اسم- واحد- مذکر- په ویړ مېدان هغه احاطه شوے ځایٔ چې تماشې ننداري پکښې معاوضتاً ښودلے شي- سرکش-

سرکش:(سر-کش)اسم صفت- باغی- سرکښ- نه منونکے- نامنونکے- نافرمان-

سرکشي:(سر-که-شي)اسم- واحد- مؤنث- باغي توب- بغاوت-

سرکښ:(سر-کښ)اسم صفت- وګوری: سرکش-

سرکښي:(سر-که-ښي)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: سرکشي-

سرکلے:(سر-که-لے)اسم- واحد- مذکر- د نوی پیدا شوی ماشوم نه په ورومبی څل د سر کلولو رسم-

سرکنده:(سر-کن-ده)اسم- واحد- مؤنث- تلوار- تېزی- تندی- تادی- تېزه منډه- بې خبره منډه-

سرکوب:(سر-کوب)اسم- واحد- مذکر- ترټل- وهل ټکول- ماتې ورکول- سرکوبی-

سرکوبي:(سر-کو-بي)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: سرکوب-

سرکوتن:(سر-کو-تن)اسم صفت- سرګردان- په بده ورځ- پرېشان حال- بدحال-

سرکوته:(سر-کو-ته)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- وګوری: سرکوتن-

سرکودن:(سر-کو-دن)اسم صفت- واحد- مذکر- سرګردان- ناقلاره- ناقراره- بې آرامه- پرېشان- خفه- سرسام-

سرکودنه:(سر-کو-ده-نه)اسم- واحد- مؤنث- پرېشانه- خفه- اوتر-

سرکودنے:(سر-کو-ده-نے)اسم صفت- سرکودن- اوتر- وارخطا- پرېشانه-

سرکور:(سر-کور)اسم- واحد- مذکر- سرکار- حکومت- حاکم-

سرکوزتوب:(سر-کوز-توب)اسم- واحد- مذکر- بې غېرتی- بې شرمي- بې ننګی-

سرکوزی:(سر-کو-زی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)شرمندګی- بې شرمي- بې عزتی- (۲)بې غېرتی- دووسی-

سرکوزے:(سر-کو-زے)اسم صفت- (۱)شرمنده- بې شرمه- بې عزته- (۲)بې غېرته- دووس-

سرکول:(سر-کول)اسم- واحد- مذکر- د چلم سر- د چلم توبې-

سرکول:(سر-ک-ول)مصدر- (۱)چلم لګول- (۲)غولول- (۳)راکښل- په زمکه راکښل- ټېله ورکول- (۴)سرمینځل- کښېنه کول او اُبدل- (۵)د کړکی قلم جوړول- (۶)نبه خطا کول- (۷)دانه چاود کول-

سرکول:(سر-کول)اسم- د اُبو مخې ته بند یا پوله اچونه- د اُبو پټم-

سرکومه:(سر-کو-مه)اسم- د کاریز د څاه (کوهی) بام یا سر پټونے-

سرکونړو:(سر-کون-ړو)اسم صفت- (۱)پېغلتوب ته نژدې جینۍ- (۲- اسم)وګوری: د سر کونړی دوېمه معنی-

سرکونړی:(سر-کون-ړی)اسم- واحد- مؤنث- کانتي- بازیګره- سر ښکته

www.pukhto.net

پورته کونه- (۲)یو قسم صحرائي بوټي-

سرکونډے:(سَر-کون-ډے)اسم- واحد- مذکر- د ورو ماشومانو د سر هغه لوئې او وړوکې ویښته چي د یو خاص مراد په نیت ساتلي شوي وي-

سرکوږے:(سر-کوږے)اسم- واحد- مذکر- کوټنۍ مال- د غنمو د ویږو غوبلونه- پرمال-

سرکه:(سر-که)اسم- واحد- مؤنث- یوه تروه مائع چي د انګورو یا ګنني وغیره د اُبو نه جوړیږي او د اچار اچولو په کار کښې پکاریږي-

سرکي:(سَر-کي)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ارغنچ- د الوبالو یو قسم-

سرکېدل:(سَر-کې-دَل)مصدر- (۱)مراد حاصلیدل- (۲)چلم لګېدل- (۳)د اُبو مخې ته بند تړلے کېدل- (۴)نبه خطا کېدل-

سرکېدونکے:(سَر-کې-دون-کے)اسم صفت- په خبره رسېدونکے- ژر پوهېدونکے- د خبرې مقصد ته رسېدونکے-

سرګا:(سَر-ګا)اسم- واحد- مذکر- پړونے- ټیکرے- څادر- پټو- سالو-

سرګجي:(سر-ګ-جي)اسم- واحد- مؤنث- ماده کوړکوړی-

سرګردان:(سَر-ګر-دان)اسم صفت- (۱)ناارامه- ناقلاره- زړه ستړے- (۲)پرېشانه- بدحاله- په بده ورځ- (م- فارسي)-

سرګردانول:(سَر-ګر-دا-نَ-وَل)مصدر متعدي- (۱)بې آرامه کول- په تکلیف کول- ناقلاره کول- (۲)پرېشانه کول- بدحاله کول- په بده ورځ کول-

سرګردانون:(سَر-ګر-دا-نَ-ون)حاصل مصدر- وګورئ سرګردانول-

سرګردانونکے:(سَر-ګر-دا-نَ-وون-کے)اسم فاعل- جمع سرګردانونکي- مؤنث سرګردانونکې- وګورئ سرګردانول-

سرګردانونګ:(سَر-ګر-دا-نَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سرګردانول-

سرګردانونه:(سَر-ګر-دا-نَ-و-نَه)حاصل مصدر- وګورئ سرګردانول-

سرګردانه:(سَر-ګر-دا-نه)اسم صفت- پرېشانه- لالهانده- ځلبلانده- سرګردان-

سرګرداني:(سَر-ګر-دا-ني)اسم- واحد- مؤنث- (۱)بې آرامي- ناقلاري- (۲)پرېشاني- بدحالي- تکلیف-

سرګردانېدل:(سَر-ګر-دا-نې-دَل)مصدر لازم- بې آرامه کېدل- ناقلاره کېدل- پرېشانه کېدل-

سرګرم:(سَر-ګر-رم)اسم صفت- پېش پېش- په څه کار کښې ډېر په شوق برخه اخستونکے- (م- فارسي)-

سرګړدان:(سَر-ګړ-دان)اسم صفت- وګورئ سرګردان-

سرګړداني:(سَر-ګړ-دا-ني)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سرګرداني-

سرګړے:(سر-ګړ-ړے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم ژیړ رنګ لرونکے ژیړ غرنیز واښه- نباتاتي نوم سیم بوپوګون ګوارن کیوسه -(CYMBOPOGON GAWARANCUSA)

سرګزشت:(سَر-ګ-زشت)فعل اسم- واقعه بیانونه- سر دویلوه- تېر شوے حال-

سرګشته:(سر-ګش-ته)اسم- حیران و پرېشان- اریان دریان- وارخطا- بې حوده- بې هوشه- لېونے- اوتر-

سرګله:(سَر-ګ-له)اسم- واحد- مؤنث- هغه محصول چي د څارو په سر اخستے شي-

سرګم:(سَر-ګم)اسم- واحد- مذکر- د موسیقي په سُرونو کښې یو نوم-

سرګنګس:(سَر-ګنګ-ګس)اسم صفت- (۱)ویرېدلے- وارخطا- (۲)بې هوشه- (۳)کیج- سرکیچ- واګن- واګن- سربیال- بېبوب-

سرګنلي:(سر-ګن-لي)اسم- واحد- مذکر- سترغلي- د سترګو د پاسه پرده- سترګلي-

سرګنه:(سر-ګ-نه)اسم صفت- مشهور- معلوم-

سرګېږے:(سر-ګه-ږے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم بوټے چي په بېړینه زمکه کښې کیږي- وګورئ سرګړے-

سرګوشي:(سر-ګو-شي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پس پس کونه- په غوږونو کښې یو بل سره خبرې کونه- ګنګوسے- غوږے- پسپسکے- (۲)چغلي کونه- غیبت کونه-

سرګومه:(سر-ګو-مه)اسم صفت- بې هوشه- بدحاله- بې سده- په ځان نه پوهېدونکے-

سرګه:(سر-ګه)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم څادر چي په خورندو کېږدۍ جوړولے شي- (افغانستان)-

سرکیچ:(سر-کیچ)اسم صفت- کاواک- ګنګس- په ځان نه پوهېدونکے- سرګنګس-

سرکیجن:(سَر-کي-جن)اسم صفت- هغه سړے چي د ګوشت خوری په مرض اخته وي- (افغانستان)-

سرکیړے:(سر-کي-ړے)اسم- وګورئ دپ نمبر ۲-

سرکي:(سر-کي)اسم- پشمنے- چربانکے- په روژو کښې د نیمې شپې نه پس خوراک-

سرلاټې:(سر-لا-ټې)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سرکونډې-

سرلایه:(سر-لا-یه)اسم صفت- کاواکه- بې کاره- بې مقصده-

سرلوڅے:(سر-لو-څے)اسم صفت- چي سر ئې بربنډ وي- چي په سر سرتور وي- سرتورسړے- مؤنث سرلوڅې-

سرلور:(سر-ل-ور)اسم- وګورئ ترسکن-

سرلوړتوب:(سَر-لوړ-توب)اسم- واحد- مذکر- سربلندي- سرفرازي- عزت- افتخار-

سرلوړتیا:(سر-لوړ-تیا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سرلوړتوب-

سرلوړوالے:(سَر-لوړ-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سرلوړتوب-

سرلوړي:(سَر-لو-ړي)اسم- واحد- مؤنث- سربلندي- سرفرازي- افتخار-

سرلوړے:(سَر-لو-ړے)اسم صفت- سربلند- سرفراز- کامیاب- کامران- د عزت خاوند- عزت کټونکے-

سرلوئ:(سر-لو-ئ)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سرلوړي-

سرلے:(سر-لے)اسم- وګورئ پشرلے-

www.pukhto.net

سرماتک:(سر-ما-تک)اسم صفت- حګړالو- فسادي- جنګيالے-

سرماتوک:(سر-ما-توک)اسم صفت- وګورئ سرماتک-

سرماتول:(سَر-ما-تَ-وَل)مصدر- (۱)دَ څۀ څيز سر دوه درې برخې کول- (۲)سر زخمي کول-

سرماتون:(سر-ما-تَ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ سرماتول-

سرماتونکے:(سَر-ما-تَ-وون-کے)اسم فاعل- جمع سرماتونکي- مؤنث سرماتونکي- وګورئ سرماتول-

سرماتونګ:(سر-ما-ت-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سرماتول-

سرماتونه:(سر-ما-تَ-وڼـه)حاصل مصدر- وګورئ سرماتول-

سرماتوۀ:(سر-ما-تَ-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ سرماتول-

سرماتي:(سر-ما-تي)اسم- واحد- مؤنث- جنګ جګړه- جنجال-

سرماتے:(سر-ما-تے)اسم- واحد- مذکر- سرماتوک- جګړه- ځمکېره- د دوال اخري پخسه-

سرماغزن:(سَر-ماغ-زن)اسم صفت- ګړبند- ګړبېدونکے- سرمغزن-

سرماغه:(سَر-ما-غه)اسم- واحد- مؤنث- شيرغشے- بره- يو قسم والنۀ چې سر يې دَ غشي پۀ شان تېرۀ وي-

سرمال:(سر-مال)اسم- واحد- مذکر- هغه پړے چې دَ باري ګاروي دَ پاسه پرې بار ترلے شي-

سرمالول:(سر-ما-ل-ول)مصدر- بار تړل-

سرمالون:(سَر-ما-لَ-ون)حاصل مصدر- وګورئ سرمالول-

سرمالونکے:(سَر-ما-لَ-وون-کے)اسم فاعل- جمع سرمالونکي- مؤنث سرمالونکي- وګورئ سرمالول-

سرمالونګ:(سَر-ما-لَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سرمالول-

سرمالونه:(سَر-ما-لَ-وڼـه)حاصل مصدر- وګورئ سرمالول-

سرمالي:(سَر-ما-لي)اسم- واحد- مؤنث- پړ والے- تر ځلې ځلې پکوالے-

سرمايه:(سَر-ما-يه)اسم- واحد- مؤنث- پنګه- ذخيره- مال دولت- پېرې جمع شوې پيسې- (م- فارسي)-

سرمايه دار:(سَر-ما-يه-دار)اسم صفت- مالدار- صاحب حيثيت- دَ پېرو پيسو او مال حال خاوند- (م- فارسي)-

سرمايه داري:(سَر-ما-يه-دا-ري)اسم- واحد- مؤنث- پانګه والي- شتۀ مني-

سرمائي:(سر-ما-ئي)اسم صفت- توربخن- تور رنګ ته نژدې رنګ- پيکه تور رنګ- سرمه ئي-

سرمبلے:(سر-م-بلے)اسم- واحد- مذکر- دَ غوړونو يو پسول- پيپه-

سرمچے:(سر-م-چے)اسم- واحد- مذکر- سلائي- دَ سترګو تورولو سلائي-

سرمد:(سر-مد)اسم- هميشګي- دائمي- تل- (م- فارسي)-

سرمرده:(سر-مر-ده)اسم- واحد- مؤنث- هغه جرګه چې پۀ يو کلي کښې دَ ولې کنستلو دَ پاره جوړه کړے شوې وي- تړ-

سرمردي:(سَر-مَر-دي)اسم- واحد- مؤنث- هغه پېسې چې دَ يو علاقې پۀ مشترکه فلاحي کار کښې پخپله د کار نۀ کولو پۀ وجه يو مزدور ته ورکولے شي-

سرمست:(سر-مَست)اسم صفت- هغه څوک چې د څۀ نشې لۀ کبله ډېر بد وي او پۀ ځان نۀ پوهيږي-

سرمشق:(سر-مشق)اسم- واحد- مذکر- نمونه- درس- مثال- پټۍ- (م- فارسي)-

سرمغزن:(سَر-مغ-زن)اسم صفت- چټي خبرې کونکے- فضول ګړبدونکے-

سرمغزن توب:(سَر-مغ-زن-توب)اسم- واحد- مذکر- چټي خبرې- بکواس- عبث خبرې-

سرمغزن تيا:(سر-مغ-زن-تيا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سرمغزن توب-

سرمغزنه:(سَر-مغ-زڼـه)اسم- واحد- مؤنث- هغه ښځه چې ډېره ونيږي-

سرمغزني:(سَر-مغ-زني)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سرمغزن توب-

سرمل:(سر-مل)اسم- واحد- مذکر- يو قسم ازغے- يو قسم واښۀ-

سرمه:(سَر-مه)اسم- واحد- مؤنث- رانجۀ- کجل- دَ سترګو تورولو يو قسم سرر پوډر-

سُرنا:(سُر-نا)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم دَ موسيقي آله چې دَ بيم پۀ شان آواز کوي- سرني- سرنا-

سرناچي:(سر-نا-چي)اسم صفت- سرنا غږونکے- جمع سرناچيان-

سرناک:(سر-ناک)اسم صفت- خونده ور او خوږ-

سرنامه:(سَر-نا-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ خط ابتدائي حصه- (۲)مقدمه- عنوان- (م- فارسي)-

سرنائي:(سر-نا-ئي)اسم صفت- سُرناچي- سُرنا غږونکے- (۲- اسم)توري- سُرنا-

سرنجه:(س-رن-جه)اسم- واحد- مؤنث- شروم- دَ ويلي شوو ګڼو خيرے چې د لوښي بيخ کښې پاتې شي- سرونجه- تروېه- سپلوغ- خټ ببره-

سرنده:(س-رن-ده)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سرينده-

سرنګ:(س-رنګ)اسم- واحد- مذکر- هغه سُورے چې پۀ غر يا پېرې کښې دَ لارو وستو پۀ غرض کولے شي-

سرنګون:(سُر-ن-ګون)اسم صفت- ټيټ سرے- شرمنده- (م- فارسي)-

سرنو:(س-ر-نو)متعلق فعل- بيا دَ سره- سُر دوباره-

سرنوشت:(سَر-ن-وشت)اسم- واحد- مذکر- تقدير- قسمت- قضا- نېټه- ازل ليک- مقدر- بخت- طالع- (م- فارسي)-

سرنيزه:(سر-نې-زه)اسم- واحد- مؤنث- د نيزې سر- د نيزې څوکه- شلګه- شلګے- (م- فارسي)-

سرني:(سُر-ني)اسم- واحد- مؤنث- شپېلۍ- سرنا-

سرنيکۀ:(سر-نې-کۀ)اسم صفت- واحد- مذکر- دَ غور نيکۀ غور نيکۀ- دَ نيکۀ د نيکۀ پلار-

سرپا:(سَر-پا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سُرنا-

زبر (ځ-بڼ-ره)، رورکے (شل)، پېش (نو-کا-ره) رمز (ک-سا-ب)، جزم (شکوې)، ه (ر-ره) ۀ (دو-سې-دڼ).

www.pukhto.net

سرناچي:(سَر-نا-چي)اسم صفت- سرناچي- سرنا غږونکے-
سرو:(سَرو)اسم- واحد- مذکر- سروه- يو لوړ قدې وَنه چې کالوسر شنه وي- نباتاتي نوم (CUPRESSUS SEMPERVIRENS)-
سرواخي:(سر-وا-خي)اسم- واحد- مؤنث- خپلواکي- خودسري- باغيتوب-
سرواخے:(سَر-وا-خے)اسم صفت- خودسر- خپلواک- باغي- سرکش- سرکښ-
سرواښ:(سَر-واښ)اسم- واحد- مذکر- دَ وښتو نه جوړ هغه پړے چې څاروي پرې تړلے شي-
سرواندہ:(سر-وان-دہ)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سربلنده-
سرواندے:(سَر-وان-دے)اسم صفت- مخ کړک- دَ پوليس يا څوکيدارانو ټولے چې څوکۍ دَ پاره دَ شپې ګشت کوي-
سرواندے:(سَر-وان-دے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ پټي دَ ورخ خوا ته برخه- (۲)دَ جوړيدونکي پُل هغه برخه چې د رومبے پرې کار شروع کيږي- دَ پُل سر- (افغانستان)-
سرواني:(سر-وا-ني) اسم- واحد- مؤنث- يو ډول ونه چې زهرژنه او ترخه ميوه لري-
سروبي:(سَ-رو-بي)اسم- واحد- مؤنث- دمه- لږ آرام- ټکور- قرار-
سروبے:(سَ-رو-بے)اسم- واحد- مذکر- هغه زمکه چې دَ خوړ په اُبو اول اول اُبه کيږي-
سروپ:(سَروپ)متعلق فعل- بالکل- بيخي- ګرسره-
سروپا:(سَ-رو-پا)اسم صفت- تر پښو- ټول بدن- سر نه تر پښو-
سروپائي:(سَ-رو-پا-ئي)اسم- دَ بدن ټولې جامې- سر نه تر پښو جامې- خلعت-
سروتره:(سَر-وَت-ره)اسم- واحد- مؤنث- موسله- مُصله- جانماز-
سروته:(سَر-وَ-ته)اسم- واحد- مؤنث- دونکاچه- چوتره-
سروتېر:(سر-و-تېر)اسم- سر دَ لاندې راغرځيدنه-
سروتکه:(سَر-وَت-که)اسم- واحد- مؤنث- دَ اور سکروټه- پهٔ اور سور سکور-
سروچوبے:(سَر-وَ-چو-بے)اسم- واحد- مذکر- سرے- شړے- شپړے- (افغانستان)-
سرود:(سَ-رود)اسم- واحد- مذکر- دَ ښنګ ټکور آواز- ساز و اواز- موسيقي-
سرودزن:(سَ-رود-زن)اسم صفت- سرودي-
سرودي:(سَ-رو-دي)اسم صفت- سرود وهونکے- سازي- مجلسي- سندرغاړے- سرودزن-
سرور:(سَ-رور)اسم- واحد- مذکر- خوشحالي- سُکالي- ښادي- خوشي- راحت-
سرور:(سَر-وَر)اسم صفت- لار ښودونکے- مشر- رهنما- رهبر-
سرورخ:(سَر-وَرخ)اسم- واحد- مذکر- دَ ولي سر- دَ لښتي سر- دَ چينې سر- سري ورخ-
سرورخے:(سَر-وَر-خے)اسم- (۱)سرچينه- سرچشمه- (۲)سربند- (۳)دَ ورخ دَ خلې سردانه يا ړنډکے چې شګې يا نور څهٔ ښيزونه پکښې غنډيږي-
سرورق:(سر-ورق)اسم- واحد- مذکر- د کتاب يا رسالې ورومبی صفحه-
سروركائنات:(سَر-و-ري-کا-ئِ-نات)اسم صفت- دَ حضور صلی الله عليه وسلم صفتي نوم-
سروري:(سر-و-ري)اسم- واحد- مؤنث- رهبري- رهنمائي- مشري- سرپرستي-
سرورزنه:(سر-وَرز-نه)اسم- واحد- مؤنث- دَ پرتوګ بېهه- دَ پرتوګ واښ اچولو ځاي-
سرووړ:(سر-و-وړ)اسم- واحد- مذکر- بالښت- سرهانه-
سروسامان:(سَر-وَ-سا-مان)اسم- واحد- مذکر- لوښي لرګي- مال حال- دَ ژوند وسائل-
سروغل:(سرو-غل)مصدر- پهٔ عذابول- تر پوزې راوستل- پهٔ تکليف کول- کړول- ربړول-
سروغلے:(سَرو-غهٔ-لے)اسم معمول- جمع سروغلي- مؤنث سروغلې- وګورئ سروغل-
سروغن:(سَرو-غن)حاصل مصدر- وګورئ سروغل-
سروغنګ:(سَرو-غنګ)حاصل مصدر- وګورئ سروغل-
سروغنه:(سَرو-غهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ سروغل-
سروغونکے:(سَرو-غون-کے)اسم فاعل- جمع سروغونکي- مؤنث سروغونکې- وګورئ سروغل-
سروغهٔ:(سَرو-غهٔ)حاصل مصدر- وګورئ سروغل-
سروقامت:(سَر-وَ-قا-مت)اسم صفت- سروقد- (۱)لوړدنګ- دَ سروې پهٔ شان قد لرونکے- (۲)معشوق- (شاعري)-
سروقد:(سَر-وَ-قد)اسم صفت- دنګ- لوړ- اوږد- وګورئ سروقامت-
سروکار:(س-رو-کار)اسم- واحد- مذکر- (۱)مناسبت- مطابقت- ارتباط- (۲)شغل- مشغوليت- مصروفيت- (۳)سريکار-
سروکال:(س-رو-کال)اسم- واحد- مذکر- کالوسر- ټول کال- تمام کال-
سرول:(س-ر-ول)اسم- پېټي- صندوق-
سرولم:(س-رو-لم)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سروپا-
سرولين:(سَر-وَ-لين)اسم صفت- دَ پېټلو يا مسو نه جوړ لوښے-
سرولينه:(سَر-وَ-لي-نه)اسم- وګورئ افتابه-
سرومال:(سَ-رو-مال)اسم مرکب- ځان او مال- (زيات دَ يو بل سره غبرګ ويلے شي)-
سروندے:(سَر-وَن-دے)اسم- واحد- مذکر- (۱)پکړي- پټکے- لنګوټه- (۲)دَ مشک وغيره دَ خلې تړلو مزے-
سروول:(سَرو-وَل)مصدر- مېل- مروړل- تاوول- ګرځول- سرويل-
سروه:(سَر-وه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سرو-
سرويل:(سرو-يل)مصدر- مېل- شاربل- مروړل- سروول-
سرويلے:(سَرو-يهٔ-لے)اسم معمول- جمع سرويلي- مؤنث سرويلې- وګورئ

ئ- (ښی-وَل)، ي-(ښي-ر-وَل)، ی-(پيا-لی)، ے-(ښن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

سرویل۔

سروین:(سرو-ین)حاصل مصدر- وګورئ سرویل۔

سروینګ:(سرو-ینګ)حاصل مصدر- وګورئ سرویل۔

سروینه:(سرو-یـنه)حاصل مصدر- وګورئ سرویل۔

سرویونکے:(سرو-یون-کے)اسم فاعل- جمع سرویونکي- مؤنث سرویونکې- وګورئ سرویل۔

سروبود:(سر-وبود)اسم- واحد- مذکر- بالښت- تکیه- هغه ګدی چې د خملاستو په وخت تر سر لاندی کولے شي۔

سروبودے:(سر-وبو-دے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سروبود۔

سروبل:(سر-وبل)اسم- واحد- مؤنث- تانبه۔

سرویے:(سر-ویے)اسم- سورے- غار۔

سرویے سرویے:(سر-ویے-سر-ویے)اسم مرکب- سورے سورے- غار غار۔

سره:(سَ-ره)متعلق فعل- یوځای- یو مل سره- په خپلو کښې- ګډ- یو تر بله۔

سره:(سره)اسم- واحد- مؤنث- بوټه- بې عیبه- کره- بې نقصه (م- فارسي)۔

سره:(سره)اسم- واحد- مؤنث- هغه کیمیاوي او مصنوعي مواد چې د شه فصل د پیدا کولو د پاره پټي کښې اچولے شي۔

سره:(سره)اسم صفت- سور رنګ لرونکې- د سور مؤنث- وګورئ سور۔

سره:(سره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)اَلَش- مردار- (۲)زوبله- تپ- (۳)د غوا وغیره بې وخته بچے غورځونه۔

سرۀ:(سرۀ)اسم- جمع- (۱)سرۀ زر- یو مشهور قیمتي دهات چې ګالي پترې ترې جوړولے شي- (۲)د مخ سرۀ- شکلے والے- (۳)پیر ناوړۀ- بریان۔

سرهار:(سر-هار)اسم صوت- د کتاب یا د کاغذ د پاڼو نه پیدا کیدونکے آواز۔

سرۀ ماتینګي:(سرۀ-ما-تینګ-ګي)اسم- جمع- مذکر- ټماټر- سرۀ باڼجې- رومي باڼجې۔

سرۀ باڼجن:(سرۀ-باڼ-جن)اسم- جمع- مذکر- وګورئ سرۀ باتینګي۔

سرهلال:(سر-هـ-لال)اسم- واحد- مذکر- د پټي یو سر او بل سر چې د یوې نه پاتې کیږي۔

سرهنګان:(سَر-هن-ګان)اسم- جمع- هنګان- د هنګ جمع- لښکر- سپاهیان۔

سرهبته:(سر-هي-بته)اسم صفت- سرګردان- غم زپلے۔

سرهیرے:(سر-هي-رے)اسم- واحد- مذکر- هغه زړه توټه چې د نوی پرتوګ بډی نه اچولے شي۔

سری:(س-ری)اسم- صدقه- سرخارے۔

سری:(س-ری)اسم صفت- پټ- مخفي- سر۔

سری:(سـَ-ری)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم جامه یا توټه۔

سریاني:(سر-یا-ني)اسم- واحد- مؤنث- یوه پخواني ژبه۔

سریبرد:(س-ري-برد)صفت/متعلق فعل- ټول- تمام- کُل- ګوسره- کلهم۔

سریپ:(سریپ)صفت/متعلق فعل- د صرف عامیانه تلفظ- محض۔

سریخ:(سریخ)اسم- واحد- مذکر- یو قسم ونه- نباتاتي نوم ایلیزیا لیبک -ALBIZZIA Lebek

سری خود:(س-ری-خود)متعلق فعل- په خپل سر- د خانه- پخپله- بې مشورې۔

سری خوده:(س-ری-خو-ده)اسم صفت- خپلواکه- د خپلې خوښې خاوند۔

سریدست:(س-ری-دست)متعلق فعل- في الحال- سم د لاسه۔

سریر:(س-ریر)اسم- واحد- مذکر- شاهي ګدی- شاهي منصب- شاهي تخت- شاهي مسند- (م- فارسي)۔

سریزه:(سُ-ری-زه)اسم- واحد- مؤنث- تمهید- مقدمه- شروع- دیباچه۔

سرین:(سَ-رین)اسم- واحد- مذکر- کوناټے- (فارسي)۔

سریندوال:(س-رینډ-وال)اسم صفت- سرینده غږونکے۔

سرینده:(سَ-رین-ده)اسم- واحد- مؤنث- سارنګي- د موسیقي یوه آله۔

سرینده مار:(س-رین-ده-مار)اسم صفت- سرینده غږونکے۔

سری ورخ:(س-ری-ورځ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سرورخ۔

سریه:(سر-یه)اسم- واحد- مؤنث- د نمر څرېکه- د نمر ګېره- د نمر راختنه۔

سریه:(سر-یه)اسم- واحد- مؤنث- هغه جنګ چې حضور صلی الله علیه و سلّم پکښې پخپله نه وی شامل شوے۔

سری:(سري)اسم- جمع- مؤنث- د سرۀ جمع- وګورئ سره۔

سرېدل:(سرې-دل)مصدر- لګېدل- پرېوتل۔

سرېښ:(سرېښ)اسم- جمع- مذکر- سرېښ- شرېښ- هغه سرېښناکه ماده چې د ډېرونه پرې خپلو کښې یوځای کولے شي۔

سرېښناک:(سرېښ-ناک)اسم صفت- نښلېدونکے- نښلونکے- سرپېښد۔

سرپېښد:(سَري-پېښد)اسم صفت- وګورئ سرېښناک۔

سرېښول:(سرې-ښول)مصدر- ښېښول- یوځای کول- یو بل سره پیوست کول۔

سرېښون:(سرې-ښون)حاصل مصدر- وګورئ سرېښول۔

سرېښونکے:(سرې-ښو-ون-کے)اسم- فاعل- جمع سرېښونکي- مؤنث سرېښونکې- وګورئ سرېښول۔

سرېښونګ:(سرې-ښو-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سرېښول۔

سرېښونه:(سرې-ښو-ونه)حاصل مصدر- وګورئ سرېښول۔

سرېښېدل:(سرې-ښې-دل)مصدر لازم- نښلېدل- یوځای کېدل- نښتل- یو بل سره پیوست کېدل۔

سرېښېدن:(سرې-ښې-دن)حاصل مصدر- وګورئ سرېښېدل۔

سرېښېدنګ:(سرې-ښې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سرېښېدل۔

سرېښېدنه:(سرې-ښې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ سرېښېدل۔

سرېښېدونکے:(سرې-ښې-دون-کے)اسم فاعل- جمع سرېښېدونکي- مؤنث سرېښېدونکې- وګورئ سرېښېدل۔

سرپله:(سـَري-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)سره خاوره- (۲)- صفت(په

www pukhto net

خپل سر- په خپل واک- په خپل اختيار- بې سره-

سرې (س-رې) اسم- واحد/جمع- مؤنث- د ستني د پاسه هغه لرګي چې تير پرې ايښودے شي-

سري (سَري) اسم- واحد- مؤنث- (۱) يو قسم بوټے او د هغې ميوه- (۲) د ګل بوټے-

سرې (س-رې) اسم- واحد- مؤنث- (۱) د چيلم سرخانه (ټوپئ)- (۲) زين پوښ- (۳) په قلبه کښې د غوايانو بدلونه په کار کښې د مزدورانو بدلونه- (۴) د بام بلې (پرچال)-

سرے (س-رے) اسم- واحد- مذکر- (۱) د مضمون عنوان- (۲) مقابل- همسر-

سرتيا (سر-تيا) اسم- واحد- مؤنث- سروالے- سرتوب-

سرڅوکه (سر-څو-که) اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سرسوکه- وړه څوکه- جمع سرڅوکې-

سرزې (سر-زې) اسم- واحد- مؤنث- (۱) سړدي- يخني- پريخنې موسم- سارۀ د ګرمۍ ضد- (۲) زکام-

سرسوکه (سر-سو-که) اسم- واحد- مؤنث- سرڅوکه- وړه څوکه- موږے تنکے غندل- غټې- نوې کلي- سپېرې کلي- (د سرڅوکه بل قرأت)-

سرګ (س-رګ) اسم- واحد- مذکر- هغه لويه لواره او پخه لاره چې موټرې لارې وغيره پرې ځي راځي-

سروب (س-روب) اسم- واحد- مذکر- په سينه کښې هغه ځاې چې اېنه پکښې ولاړې وي- سروبے-

سروبے (س-رو-بے) اسم- واحد- مذکر- وګورئ سروب-

سروبے ګړئ (س-رو-بے-ګ-ړئ) اسم مرکب- هغه ګړئ (منګے) چې اېنه ئې پخې وي- (افغانستان)-

سروپ (سروپ) متعلق فعل- سروپه- بالکل- بيخي- ګرد- ګرد- ټول- په جمع-

سرووبے (سر-وو-بے) اسم صفت- سوړبويه- خراب بوئ کونکے- پوسن-

سروکې (س-رو-کې) اسم- واحد- مؤنث- د وني سر-

سرول (س-رول) مصدر متعدي- (۱) يخول- (۲) سړکول-

سرون (س-رون) حاصل مصدر- وګورئ سرول-

سرونکے (س-رون-کے) اسم فاعل- جمع سرونکي- مؤنث سرونکې- وګورئ سرول-

سرونګ (س-رونګ) حاصل مصدر- وګورئ سرول-

سرونه (س-رو-نه) حاصل مصدر- وګورئ سرول-

سروۀ (س-روۀ) حاصل مصدر- وګورئ سرول-

سره (س-ره) اسم صفت- د سړ مؤنث- وګورئ سړ-

سره تبه (س-ره-تبه) اسم- واحد- مؤنث- سره لړزه- يوه تبه چې يخني ورسره ډېره زياته وي-

سره توده (س-ره-تو-ده) اسم- مؤنث- (۱) تکليف او آرام- سخته نرمه- غم او ښادي- (۲) د ماشومانو يو قسم لوبه- (افغانستان)-

سره خله (س-ره-خله) اسم صفت- يخه خله- مړ- مړے- مړ شوے-

سره خوا (س-ره-خوا) اسم صفت- (۱) سړه او يخه علاقه- سره سينه- (۲) يخ مزاجه-

سره ساه (س-ره-ساه) اسم- واحد- مذکر- (۱) اسويلے- سوړ اسويلے- (۲) زغم- حوصله-

سره سمخه (س-ره-سم-خه) اسم- واحد- مؤنث- چپتيا- چوپه چپيا- خاموشي- سره سمواتي-

سره سمواتي (س-ره-سم-وا-تي) اسم- واحد- مؤنث- چوپه چوپيا- مکمل خاموشي- وګورئ سره سمخه-

سره سينه (س-ره-سي-نه) اسم- واحد- مؤنث- وګورئ د "سره خوا" اوله معنی-

سره سينه (س-ره-سي-نه) اسم- واحد- مؤنث- بې غمي- سوړ زړۀ- لاپروائي-

سره ککره (س-ره-کک-ره) اسم- واحد- مؤنث- بيخي يخه- يخه پخه-

سره کۍ (س-ره-کۍ) اسم- واحد- مؤنث- (۱) د ونې څوکه- (۲) د غر څوکه-

سره لړې (س-ره-لړې) اسم- مؤنث- سره لوې- هغه تبه چې مريض د يخنۍ له کبله کړکوزې وهي- سره لوه-

سره لوه (س-ره-لوه) اسم- واحد- مؤنث- هغه تبه چې بدن پکښې د يخنۍ نه رپي- سره لړې-

سره لوې (س-ره-لوې) اسم- مؤنث- وګورئ سره لړې-

سره وچه (س-ره-وچه) اسم صفت- پاتې شوې- د کو ورکو-

سريتوب (س-ري-توب) اسم- واحد- مذکر- سړي هوښ- (۱) انسانيت- (۲) ښه اخلاق- ښه کردار- تهذيب-

سړيخور (س-ړي-خور) اسم صفت- (۱) د انسان غوښه خوړونکے- آدم خور- (۲) حريص- حرص- ظالم-

سړي سر (س-ړي-سر) اسم- برابر- مساوي- د تن په سر يو- يو برابر- يو شان-

سړي هوښ (س-ړي-هوښ) اسم- واحد- مذکر- وګورئ سريتوب-

سړي تودي (س-ړي-تو-دي) اسم مرکب- سختې نرمې- ګرمې نرمې- تاودۀ سارۀ-

سړيچن (س-ړي-چن) اسم صفت- هغه څوک چې ډېره يخني ئې کيږي- يخ زنے-

سړيدل (س-ړي-دل) مصدر لازم- (۱) يخيدل- (۲) په غصه قابو کېدل- (۲) مړۀ کېدل-

سړيدن (س-ړي-دن) حاصل مصدر- وګورئ سړيدل-

سړيدنګ (س-ړي-دنګ) حاصل مصدر- وګورئ سړيدل-

سړيدنه (س-ړي-دنه) حاصل مصدر- وګورئ سړيدل-

سړيدونکے (س-ړي-دون-کے) اسم فاعل- جمع سړيدونکي- مؤنث سړيدونکې- وګورئ سړيدل-

سړيدۀ (س-ړي-دۀ) حاصل مصدر- وګورئ سړيدل-

ئ (ئی-رل)، ي (مې-ره-ول)، ې (پيا-لې)، ۀ (تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

سړے:(س-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)سړے بنیادم- نر انسان- (۲)نوکر- خدمتګار- (۳)میړه- خاوند-

سزا:(س-زا)اسم- واحد- مؤنث- جزا- دَ بدی بدله- بدل- عوض- انتقام- مداد- (م- فارسی)-

سزاوار:(س-زا-وار)اسم صفت- د سزا قابل- دَ سزا لائق- دَ سزا جوګه-

سزاول:(س-زا-ول)اسم- واحد- مذکر- پټواری- هغه کس چې محصول یا مالیه ټولوی-

سزنی:(سز-نی)اسم- واحد- مؤنث- وګوری سخنی/سیزنی-

سژ:(سژ)اسم صوت- دَ ټوپک دَ ګولی اواز- سږ- سغ-

سژه:(سه-ژه)اسم- واحد- مؤنث- سرژه- ښخه- شخه-

سږ:(سږ)اسم- واحد- مذکر- (۱)سږکال- سخکال- روان کال- جاری کال- (۲)وګوری سژ-

سږار:(سه-وار)اسم صوت- وګوری سږهار-

سږکال:(سږ-کال)اسم- واحد- مذکر- وګوری سږ-

سږمور:(سږ-ممور)اسم صفت- وګوری سپږمور-

سږمه:(سږ-مه)اسم- واحد- مؤنث- وګوری سپږمه-

سږمه:(سږ-مه)اسم- واحد- مؤنث- سږمی- تمبیرے- دَ مخ مهوکے- دَ مخ تمبیرے- جمع سږمی-

سږمی:(سږ-می)اسم- جمع- مذکر- سږمه- ترومه- تمبوڑے- دَ مخ تمبوڑے-

سږنے:(س-ږ-نے)اسم صفت- د دی کال- دَ موجوده کال- دَ سخکال سره متعلق-

سږنے کال:(س-ږ-نے-کال)اسم- واحد- مذکر- وګوری سږکال-

سږهار:(سږ-هار)اسم صوت- دَ ټوپک دَ ګولیو پرله پسې آواز- سږار-

سږے:(سه-ږے)اسم- واحد- مذکر- پړپوس-

سسهار:(س-س-هار)اسم- واحد- مذکر- دَ یوی پاڼه- دَ یوی تیښتی- سهاره- کرکی-

سسهاره:(س-س-ها-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګوری سسهار-

سسهر:(س-س-هر)اسم- واحد- مذکر- کودالی- سخسوره- کشی- سسکوره- تسکوره- سسهور- سسهوره-

سسهور:(س-س-هور)اسم- واحد- مذکر- وګوری سسهر-

سسهوره:(س-س-هو-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګوری سسکوره/سسهر-

سست:(سست)اسم صفت- (۱)ناراسته- کاهل- لټ- (۲)دَ کلک ضد- سست پست-

سست:(سست)اسم صفت- معمول- کونی-

سست پست:(سست-پست)اسم صفت- وګوری سست-

سستوالے:(سست-والے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ناراستی،کاهلی- لټوالے- (۲)کونی توب-

سستول:(س-س-تول)مصدر متعدی- (۱)ناراسته کول- بېکاره کول- (۲)ترمول- آسانول- ارتول- شلمول-

سستول:(س-س-ته-ول)مصدر متعدی- کونی کول-

سستون:(س-س-ته-ون)حاصل مصدر- وګوری سستول-

سستونکے:(س-س-ته-ون-کے)اسم فاعل- جمع سستونکی- مؤنث سستونکې- وګوری سستول-

سستونګ:(س-س-ته-ونګ)حاصل مصدر- وګوری سستول-

سستونه:(س-س-ته-و-نه)حاصل مصدر- وګوری سستول-

سسته:(س-س-ته)اسم صفت- دَ سست مؤنث-

سسته:(س-س-ته)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وېل- (۲)کمزوری- (۳)دَ سست مؤنث-

سستی:(س-س-تی)اسم- واحد- مؤنث- ناراستی- کاهلی- کمزوری- لټوالے-

سستی:(س-س-تی)اسم- واحد- مؤنث- مفعولیت- کونی والے- کونی توب-

سستیا:(س-س-تیا)اسم- واحد- مؤنث- ناراستی- سستی- کاهلی-

سستېدل:(س-س-تې-دل)مصدر لازم- (۱)ناراسته کېدل- (۲)پرانستے کېدل- شلېدل- (۳)کمزورے کېدل-

سستېدل:(س-س-تې-دل)مصدر لازم- کونی کېدل-

سستېدن:(س-س-تې-دن)حاصل مصدر- وګوری سستېدل-

سستېدنګ:(س-س-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګوری سستېدل-

سستېدنه:(س-س-تې-د-نه)حاصل مصدر- وګوری سستېدل-

سستېدونکے:(س-س-تې-دون-کے)اسم فاعل- جمع سستېدونکی- مؤنث سستېدونکې- وګوری سستېدل-

سستېده:(س-س-تې-ده)حاصل مصدر- وګوری سستېدل-

سسکوره:(س-س-کو-ره)اسم- واحد- مؤنث- کدالی- سهکوره- دَ اسپنې او لرګی هغه آله چې زمکه پری کنستے شی-

سسے:(سه-سے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم بې ارغیو غرنیز بوټے چې د سوزولو دَ پاره بکارولے شی- سوسے-

سشکله:(سش-کله)متعلق فعل- شکله- هیڅ کله- هېچری- تل- کله چې هغه وخت-

سښا:(سښا)اسم صوت- سښهار- دَ ابو دَ یشېدو آواز-

سښوره:(سښ-سو-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګوری سسکوره-

سښکوره:(سښ-کو-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګوری سسکوره-

سطح:(س-طح)اسم- واحد- مؤنث- (۱)سطحه- مخ- استر- دَ څهٔ څیز برنی حصه- (۲)هر هغه څهٔ چې طول او عرض لری- (م- عربی)-

سطحی:(سط-حی)اسم صفت- (۱)دَ سطحې سره متعلق- (۲)سرسری- (۳)علاقائی- (م- عربی)-

سطر:(سه-طر)اسم- واحد- مذکر- (۱)لیکه- کیله- کرښه- کرله- (۲)فقره- دَ لیک یوه کرښه- (م- عربی)-

سطرنج:(سط-رنج)اسم- واحد- مذکر- شطرنج- یوه لوبه- (م- فارسی)-

زبر "(خ-یڅ-ره)"، زورکے "(شل)"، پېښ "(نو-کا-ره)"، زیر "(ک-تاب)"، جزم "(شکون)"، "ۂ"(ز-ړه)، "ۀ"(بو-سبې-دهٔ)

www.pukhto.net

سطور:(سُ-طور)اسم- جمع- مذکر- دَ سطر جمع- وګورئ سطر-

سعادت:(س-عا-دت)اسم- واحد- مذکر- نېک بختي- نېک مرغي- خوش بختي- اقبال مندي- ښادمني- باعلتيا- (م- عربي)-

سعادتمند:(سَ-عا-دت-مَند)اسم صفت- نېک بخته- نېک مرغه-

سعادتمندي:(سَ-عا-دَت-مَن-دي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سعادت-

سعادتمني:(سَ-عا-دَت-مه-ني)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سعادت-

سعد:(سَ-عد)اسم- واحد- مذکر- نېک- مبارک- ښه- پاک- دَ نحس ضد- (م- عربي)-

سعد اکبر:(س-عد-اَ-کبر)اسم- واحد- مذکر- مرغ ستورے- مشتري- يوه سياره چې ډېره مبارکه ګڼلے شي-

سعدين:(سع-دين)اسم- جمع- مذکر- دوه مبارکې سيارې چې دَ يو نوم زهره او دَ بلې مشتري دے-

سعي:(سَ-عي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)جدوجهد- کوشش- خوارې- محنت- (۲)کار- عمل- (۳)دَ حج دوران کښې دَ صفا او مروا غرونو تر مېنځه دَ ځغ مقرره اصولو لاندې منډه وهنه- (م- عربي)-

سعيد:(سَ-عيد)اسم صفت- کچير- برخه من- نېکمرغه- خوش قسمته- نېک بخته- دَ شقي ضد- (م- عربي)-

سعير:(سَ-عير)اسم- واحد- مذکر- (۱)دوزخ- (۲)دوزخي طبقه- (م- عربي)-

سعيه:(سَع-يه)اسم- وګورئ سعي-

سغ:(سَغ)اسم صوت- دَ ټوپک ډماچې دَ ګوليو وېستو آواز- دَ ټوپک دَ ګولي اواز- سغا- سغکے-

سغا:(سغ-غا)اسم صوت- وګورئ سغ-

سغاو:(س-غاو)اسم- واحد- مذکر- دَ کبو بېزو يو مرض چې پوزه ئې پکښې بندېږي-

سغکے:(سغ-کے)اسم صوت- (۱)وګورئ سغ- (۲)دَ بندې پوزې آواز-

سغل:(سَ-غل)اسم- واحد- مذکر- دَ بدهضمي ناروغي-

سغندے:(سغ-غن-دے)اسم- پوچه خبره- بې خونده خبره-

سغول:(سغ-غ-ول)مصدر متعدي- دَ لاس په مدد سره کاټے وغيره په زوره ارتاوول- ښغول- په ټوپک ګولۍ وېشتل-

سغولے:(سغ-غ-وَلے)اسم مفعول- جمع سغولي- مؤنث سغولې- وګورئ سغول-

سغون:(سغ-غ-ون)حاصل مصدر- وګورئ سغول-

سغونکے:(سغ-غ-وون-کے)اسم فاعل- جمع سغونکي- مؤنث سغونکې- وګورئ سغول-

سغونګ:(سغ-غ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سغول-

سغونه:(سغ-غ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ سغول-

سغوه:(سغ-غ-وه)حاصل مصدر- وګورئ سغول-

سغهار:(سغ-هار)اسم صوت- وګورئ سغ-

سغېدل:(سغ-غې-دَل)مصدر لازم- دَ لاس په مدد سره کاټے وغيره په زور سره ارتاوېدل- ښغېدل-

سغېدلے:(سغ-غې-دَلے)اسم مفعول- جمع سغېدلي- مؤنث سغېدلې- وګورئ سغېدل-

سغېدن:(سغ-غې-دن)حاصل مصدر- وګورئ سغېدل-

سغېدنګ:(سغ-غې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ سغېدل-

سغېدنه:(سغ-غې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ سغېدل-

سغېدونکے:(سغ-غې-دون-کے)اسم فاعل- جمع سغېدونکي- مؤنث سغېدونکې- وګورئ سغېدل-

سغېده:(سغ-غې-ده)حاصل مصدر- وګورئ سغېدل-

سف:(سف)اسم- واحد- مذکر- ورغوے- کف-

سفارت:(س-فا-رت)اسم- واحد- مذکر- دَ سفير عمله چې صلحې صفايي او دوستانه تعلقاتو جوړولو په غرض دَ يو سلطنت نه بل سلطنت ته ځي- استازي- (م- عربي)-

سفارتخانه:(س-فا-رت-خا-نه)اسم- واحد- مؤنث- په بل ملک کښې دَ سفير دفتر او استوګې ځاۍ-

سفارش:(س-فا-رش)اسم- واحد- مذکر- شفاعت- سعي- سپارښتنه- سپارښت- سفارښ-

سفارشي:(س-فا-رشي)اسم صفت- سفارش کونکے-

سفارښ:(س-فا-رښ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سفارش-

سفارست:(س-فا-رست)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سفارش-

سفاک:(س-فاک/سف-فاک)اسم صفت- خون کونکے- وينه تويونکے- خوني- قاتل- خونړے- بې رحمه-

سفاکي:(س-فا-کي)اسم- واحد- مؤنث- خونرېزي- بې دردي- بې رحمي- دَ انسانو دَ وينو تويولو عمل-

سفر:(سَ-فر)اسم- واحد- مذکر- مسافرت- سياحت- دَ يو ځاۍ نه بل ځاۍ ته تلنه- يون- (م- عربي)-

سفربري:(س-فر-بري)اسم- واحد- مؤنث- دَ سفر تيابيا کونه- سفر ته تياري کونه-

سفرخرچ:(سَ-فر-خرچ)اسم- واحد- مذکر- زادِ راه- دَ سفر دوران کښې صرف کېدونکې روپۍ پيسې- ګوړے- سفريه-

سفرنامه:(س-فر-نا-مه)اسم- واحد- مؤنث- دَ سفر باره کښې هغه ليک چې دَ خپل سفر يا دَ بل چا دَ سفر دَ سترګو ليدلے حال پکښې قلمبند کړے شي- يون ليک-

سفرمېنا:(سَ-فر-مې-نا)اسم- واحد- مؤنث- هغه دسته چې دَ سرنګ جوړولو دَ پاره مقرر کړے شي-

سفره:(سف-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دسترخوان- (۲)توشه دان- ځخولے- (م- فارسي)-

www.pukhto.net

سفري:(س-فـ-ري)اسم صفت- مسافر- سفر کوونکے- روان- (م- فارسي)-
سفريه:(س-فـ-ري-يه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سفرخرڅ- (انعامسس)-
سفله:(سفـ-له)اسم صفت- کمينه- رذيل- (م- عربي)-
سُفلي:(سُفـ-لي)اسم صفت- (١)د کمې درجې- نـاقص- دٔ اعلـیٰ ضد- (٢)ډېر ښکته- ډېر ټيټ- د لاندې-
سفوف:(س-فوف)اسم صفت- ميده- رس- پوډر- (م- عربي)-
سفير (س-فير)اسم- واحد- مذکر- ايلچي- هغه سړے چې د ملکي صفايي او دوستانه تعلقاتو جوړولو په غرض د خپل ملک لهٔ خوا سرکاري طور بل ملک کښې پېره وي- اسباڅے- (م- عربي)-
سفينه:(س-فی-نه)اسم- واحد- مؤنث- کشتئ- بېړئ-
سفيه:(س-فی-يه)اسم- واحد- مذکر مؤنث- بې وقوف- احمق- کم عقل- (م- عربي)-
سفيد:(سْ-فيد)اسم صفت- سپين- د تور ضد- (م- فارسي)-
سفيدي:(س-فې-دي)اسم- وګورئ احېږ-
سفيدار:(س-فې-دار)اسم- جمع- مذکر- وګورئ سپېدار- سپاناتي- POPULUS ALBA-
سفيده:(س-فې-ده)اسم- واحد- مؤنث- سپيده- سفېدار-
سقا:(س-قا)اسم- واحد- مذکر- (١)مشک- (٢- صفت)مشکی- مشکی وال- سقاؤ- آبے- آبهٔ ور-
سقال:(س-قال)اسم- واحد- مذکر- ويره-
سقاؤ:(سْ-قاؤ)اسم صفت- مشکي- بهشتي- د مشک کار کونکے- د بلديو لهٔ خوا د چېکاؤ کار کونکے-
سقاوه:(س-قا-وه)اسم- واحد- مؤنث- هغه ځاۓ چې پکښې ډېري ابهٔ وي- غسل خانه- لمبو ځاۓ- چرچوبی- (م- عربي)-
سقر:(سْ-قر)اسم- واحد- مذکر- دوزخ- جهنم- دوغس- اورګړ- (م- عربي)-
سقراط:(سُق-راط)اسم- واحد- مذکر- دٔ يونان يو مشهور فلسفي-
سقط:(سْ-قط)اسم- واحد- مذکر- (١)بې کټې او عبث ځيز- (٢)رسوائي- (٣)په وينا يا ليک کښې غلطي-
سقط:(سقط)اسم- واحد- مذکر- د چوپايو مړهٔ کېدنه- زيانېدنه- نقصانېدنه- (م- عربي)-
سقف:(سْ-قف)اسم- واحد- مذکر- چت- د کوټې د آبادۍ برنئ حصه- (م- عربي)-
سقم:(سْ-قم)اسم- واحد- مذکر- عيب- نقص- خرابي- (م- عربي)-
سقنقور:(سَ-قن-قور)اسم- واحد- مذکر- دٔ مصري غندي يو کب- شګ مهے- شګ کب- (م- عربي)-
سقوط:(سْ-قوط)متعلق فعل- (١)غرځېدنه- غورځېدنه- (٢)انزال کېدنه- حلاصدنه- (م- عربي)-
سقوطري:(س-قو-طري)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم ډېره ترخه دړئي-
سقيم:(س-قيم)اسم صفت- ناقص- بيمار- مريض- ناجوړه- (م- عربي)-
سک:(سک)اسم- واحد- مذکر- (١)برېښ- د ملا درد- په ملا کښې ځريکه راتلمه- درد- ځريکه- (٢- اسم صوت)د ژړا سلګی- د ژړا اټکی-
سکاخے:(س-کا-خے)اسم- بخې- ګلري-
سکاروے:(سکار-وے)اسم- واحد- مذکر- يو مرض چې پکښې د سينې دننه پرده پړسيږي- نمونيا-
سکارهٔ:(سکا-رهٔ)اسم- جمع- مذکر- د سکور جمع- د لرګيو سوزولو نه پس په ابو مړې کړے شوي سکروټې چې عام طور په انګيټې کښې استعمالولے شي-
سکاسه:(سَکا-سه)اسم- واحد- مونث- خيالي بلا- بڼ-
سکال:(س-کال)اسم- واحد- مذکر- سخکال- سکالې- سږ- سږنے کال-
سکالوی:(سَکال-وي)اسم- واحد جمع- مذکر- زبيرګی-
سکالو (سکا-لو)اسم- واحد- مؤنث- ښکالو- په خاموشۍ کښې دٔ ځا دٔ خبرو يا د پښو آواز-
سکالي:(س-کا-لي)اسم- واحد- مؤنث- خوشحالي- اسودګي- اطمينان-
سکان:(سکان)اسم- واحد- مذکر- سکې- سکاڼ- (١)توروبره- توربخن- کلوت- (٢)ښکلے تورسخن-
سکان:(سکان)اسم صفت- سکې- سکان-
سکته:(سکـ-ته)اسم- واحد- مؤنث- وقفه- ځنډ- معطلي-
سکټ:(سکټ)متعلق فعل- بالکل- بيخي- مکمل- صفا- لکه سکټ انکار-
سکر:(سْ-کر/سُکر)اسم- واحد- مذکر- نشه- بې هوشي- دٔ شرابو څښلو لهٔ کبله مستي- (م- عربي)-
سکرات:(س-کرات)اسم- واحد- مذکر- ځنکدن- دٔ مرګ سختي- دٔ مرينې اخري سلګی- (م- عربي)-
سکرندی:(سْکه-رن-دی)اسم- واحد- مؤنث- دٔ ميږري دٔ بوټي دٔ بيخ غټه- غټه- سنغ-
سکروټه:(سْکر-وټه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سروټکه-
سکرک:(سکـ-رک)اسم- مذکر- سوکړک- ږيږيئے-
سکړک:(سکـ-ړک)اسم صفت- خراب- وران- په بد حال-
سک سک:(سکسک)اسم- غوانې ته په غوا دٔ خټو د پاره د آماده کولو کلمه- ږيو ږيو-
سکښت:(سکښت)اسم- واحد- مذکر- (١)پرېکره- په قېنچې قطع کونه- (٢)کټ- کټونه-
سکښتل:(سکښ-تل)مصدر- په قينچي کېږه يا کاغذ پرېکول- (٢)کښول- کينده کول-
سکښتن:(سکښ-تن)حاصل مصدر- وګورئ سکښتل-
سکښتنګ:(سکښ-تنګ)حاصل مصدر- وګورئ سکښتل-
سکښتنه:(سکښ-تنه)حاصل مصدر- وګورئ سکښتل-

رسر (خ سه ره)، وورکے (شل)، ټمښ (مو کا-وه)، رمر (ک تياب)، محوم (شکوں)، ة(ر-ړه)، ة(پو-سي-دهٔ)

www.pukhto.net

سکښتونکے:(سکښ-تون-کے)اسم فاعل- جمع سکښتونکی- مؤنث سکښتونکې- وګورئ سکښتل-
سکښته:(سکښ-ته)اسم- قینچی شوی ټوټه- غوی شوے ټوکر-
سکښتے:(سکښ-تے)اسم صفت- (۱)قطع شوے- پرېکړے شوے- قینچی شوے- (۲)کنډلے-
سکم:(سکم)اسم- واحد- مذکر- برغوټي بوری- غونډے- غبرګه بوری-
سکنجبین:(سکن-ج-بین)اسم- واحد- مذکر- د لیمو یا سرکې شربت- شکنجبین- (م- فارسی)-
سکنجه:(سکن-جه)اسم- واحد- مؤنث- ګرفت- پنجه- شکنجه- د کتاب تړلو یوه آله-
سکنے:(سکه-نے)اسم- واحد- مذکر- بېړه- برغورے- سرمبلے- د غوړونو پسول-
سکنے:(س-که-نے)اسم- واحد- مذکر- حقیقی- سکه-
سکڼ:(سکڼ)اسم صفت- واحد- مذکر- توربخن خو خوش شکله (بسیادم)-
سکڼ:(سکڼ)اسم- واحد- مذکر- (۱)پرېکړه- په قینچی پرېکړه- (۲)کنډو- کنډونه- کینده کونه-
سکڼل:(سکه-ڼل)مصدر متعدی- (۱)په بیاتی پرېکول- قطع کول- (۲)کنډل- کینده کول-
سکڼلے:(سکه-ڼه-لے)اسم معمول- جمع سکڼلی- مؤنث سکڼلې- وګورئ سکڼل-
سکڼنه:(سکه-ڼه-نه)حاصل مصدر- وګورئ سکڼل-
سکڼودل:(سکه-ڼو-دل)مصدر- وګورئ سکڼل-
سکڼونکے:(سکه-ڼون-کے)اسم فاعل- جمع سکڼونکی- مؤنث سکڼونکې- وګورئ سکڼل-
سکڼی:(سکه-ڼی)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)د غوړونو والی- سکنے- (۲)د روږو پېیلے شوے اېل-
سکڼے:(سکه-ڼے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ېږوے- (۲)وګورئ سکڼ-
سکو:(سکو)اسم- (۱)کنډنه- سکڼودنه- (۲)کاسه ګربه- کشب- (۳)ښاخی- دري ښاخې-
سکو:(س-کو)اسم- (۱)د ږیرو چوکی- چونتره- صفه- (۲)سرخلاصي ږبه-
سکوت:(س-کوت)اسم- واحد- مذکر- خاموشي- قلاری- چپه چوپیا-
سکوت:(سکوت)صفت- ټول- کل-
سکور:(سکور)اسم- واحد- مذکر- (۱)مره شوي سکروټکه- د سکاره واحد- (۲)شکور-
سکوستل:(سکوس-تل)مصدر- وګورئ سکول ۲-
سکوستن:(سکوس-تن)حاصل مصدر- وګورئ سکوستل-
سکوستنګ:(سکوس-تنګ)حاصل مصدر- وګورئ سکوستل-
سکوستنه:(سکوس-تنه)حاصل مصدر- وګورئ سکوستل-
سکوستونکے:(سکوس-تون-کے)اسم فاعل- جمع سکوستونکی- مؤنث سکوستونکې- وګورئ سکوستل-
سکوسته:(سکوس-ته)حاصل مصدر- وګورئ سکوستل-
سکوسے:(سکوس-سے)اسم صفت- سکبلے- سکبودلے- سکښتے-
سکول:(سکول)اسم- واحد- مذکر- مکتب- د اول جماعت نه تر لسمه جماعته پورې د زدکړې ځاې-
سکول:(سکه-ول)مصدر- د ګډو بېزو وړښته قینچی کول- د ګډو بېزو وړی غټول-
سکول:(سکول)اسم- واحد- مذکر- ټال- په ونه کښې د پړی نه جوړ ټال-
سکولګر:(سکول-ګر)اسم صفت- هغه سړے چې د ګډو بېزو نه وړښته سکښی-
سکوال:(سکو-ال)مصدر- د ګډو بېزو نه وړی قینچی کول-
سکوللے:(سکو-لل-لے)اسم معمول- جمع سکوللی- مؤنث سکوللې- وګورئ سکول-
سکوله:(سکو-له-نه)حاصل مصدر- وګورئ سکوال-
سکولونکے:(سکو-لون-کے)اسم فاعل- جمع سکولونکی- مؤنث سکولونکې- وګورئ سکوال-
سکوله:(سکو-له)حاصل مصدر- وګورئ سکوال-
سکولے:(سکه-ول-لے)اسم معمول- جمع سکولی- مؤنث سکولې- وګورئ سکول۲-
سکون:(سکه-ون)حاصل مصدر- وګورئ سکول۲-
سکون:(س-کون)اسم- واحد- مذکر- (۱)آرام- راحت- خوشحالی- (۲)نه خوځېدنه- د حرکت ضد-
سکونت:(س-کو-نت)اسم- واحد- مذکر- استوګه- استوګنه- وسېدنه- ژوند تېرونه-
سکوڼاره:(سکون-ڼاره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ شکوڼاره-
سکوڼل:(سکون-ڼل)مصدر متعدی- شکوڼل- سکوڼاري لګول- نوکاري لګول- زوروِل-
سکوڼن:(سکون-ڼن)حاصل مصدر- وګورئ سکوڼل-
سکوڼنګ:(سکون-ڼنګ)حاصل مصدر- وګورئ سکوڼل-
سکوڼنه:(سکون-ڼنه)حاصل مصدر- وګورئ سکوڼل-
سکوڼونکے:(سکون-ڼون-کے)اسم فاعل- جمع سکوڼونکی- مؤنث سکوڼونکې- وګورئ سکوڼل-
سکوڼه:(سکون-ڼه)اسم- واحد- مؤنث- شکوڼاره- سکوڼاره- نوکاره-
سکوڼه:(سکون-ڼه)حاصل مصدر- وګورئ سکوڼل-
سکونکے:(سکه-ون-کے)اسم فاعل- جمع سکونکی- مؤنث سکونکې- وګورئ سکول۲-
سکونګ:(سکه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سکول۲-
سکونه:(سکه-ونه)حاصل مصدر- وګورئ سکول۲-
سکونے:(سکه-و-نے)اسم- واحد- مذکر- محی- کیده-

ئ- (غی-ږل)، ې-(مې-ره-ول)، ی-(پیا-لی)، ے-(تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

سکویل:(سکو-یل)مصدر- (۱)گډې بېزي قيمچي کول- (۲)وېزه رېزه کول- (۲)کرول-

سکویلے:(سکو-یۀ-لے)اسم مفعول- جمع سکویلي- مؤنث سکویلې- وګورئ: سکویل-

سکوین:(سکو-ین)حاصل مصدر- وګورئ: سکویل-

سکوینګ:(سکو-ینګ)حاصل مصدر- وګورئ: سکویل-

سکوینه:(سکو-یۀ-نه)حاصل مصدر- وګورئ: سکویل-

سکویونکے:(سکو-یون-کے)اسم فاعل- جمع سکویونکي- مؤنث سکویونکې- وګورئ: سکویل-

سکویۀ:(سکو-یۀ)حاصل مصدر- وګورئ: سکویل-

سکوې:(سکوې)اسم- ګنډنه- پۀ کپړه یا ټالو بوټي کونه-

سکوے:(سکۀ-وے)اسم صفت- واحد- مذکر- درزي- ګنډل کونکے- سکوبکے- خیاط-

سکه:(س-که)اسم صفت- د یو مور او یو پلار اولاد- حقیقي-

سکه:(س-که)اسم- واحد- مؤنث- دُ دمات نه جوړه یوه سرکاري روپۍ- پیسه چې دُ یو مخصوصې سرکاري نښې پۀ وجه ئې پېژندګلو کیږي- جمع سکې-

سکه:(سه-که،سکه)متعلق فعل- وګورئ: څکه- (متروک)-

سکي:(س-کي)اسم- حباب- بړبوکي-

سکیج:(سکیج)اسم- واحد- مذکر- یو قسم بوټے چې زیړ ګل کوي او کچل تري جوړولے شي- (افغانستان)-

سکیم:(سکیم)اسم- (۱)جوړل- (۲)منصوبه-

سکیندل:(سکین-دل)مصدر- ساه لوړیدل- اوږده کیدل- پۀ سکیندو سکیندو ساه اخستل-

سکیندلے:(سکین-دۀ-لے) اسم مفعول- جمع سکیندلي- مؤنث سکیندلې- وګورئ: سکیندل-

سکیندن:(سکین-دن)حاصل مصدر- وګورئ: سکیندل-

سکیندنګ:(سکین-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ: سکیندل-

سکیندونکے:(سکین-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع سکیندونکي- مؤنث سکیندونکې- وګورئ: سکیندل-

سکیندنه:(سکین-دۀ-نه)حاصل مصدر- وګورئ: سکیندل-

سکینده:(سکین-ده)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دُ مات هیرکي چجه- (۲)تسکین-

سکینه:(سه-کي-نه)اسم- دُ زړۀ آرام- دُ زړۀ سکون- دُ زړۀ دمه-

سکېدل:(س-کي-دل)مصدر- غونښېدل- څڅکېدل- لکه دُ سپرو وریو پۀ جامو کښې ورو ورو څوړېدل-

سکړ:(س-کړ)اسم- واحد- مذکر- سکور- سکاره-

سکېکر:(س-کي-کر)اسم- دستکار- لستکار- هغه څول چې څۀ شړ ئې زده وي-

سکېلونے:(سکي-لو-نے)اسم- واحد- مذکر- زوېرګے- زېبرګے- فریاد کونه- سکېلوے-

سکېلوے:(سکېل-وے)اسم- (۱)زېبرګے- فریاد- سکېلونے- (۲)تاړ- لګن-

سکېلے:(سکے-لے)اسم- واحد- مذکر- دُ ورو مرغیو نیولو یو قسم جال یا لومه-

سکی:(سکی)اسم- واحد- مؤنث- بناغی-

سکے:(س-کے)اسم- پېکل- سکه- تناو-

سګ:(سګ)اسم- واحد- مذکر- سپے-

سګار:(س-ګار)اسم- واحد- مذکر- د عام سګرټ نه اوږد او غټ سګرټ چې تماکو پکښې ګنډلے شي-

سګال:(س-ګال)اسم- واحد- مذکر- قیاس- ګومان- اندازه- جاج- (م- فارسي)-

سګرټ:(سګ-رټ)اسم- واحد،جمع- مذکر- دُ کاغذ نچه چې دُ تماکو نه ډکه وي او خلق ئې دُ نشې پۀ توګه څښي-

سګرټ داني:(سګ-رټ-دا-ني)اسم- واحد- مؤنث- هغه لوښے چې دُ سګرټ ایره او آخري غرځونکي حصه پکښې غرځولے شي-

سګرټي:(سګر-ټي)اسم صفت- دُ سګرټو څښلو عادي- سګرټ څښونکے-

سګل:(س-ګل)اسم- واحد- مذکر- یو قسم دُ لوړو پوندو بوټیان چې دُ کچه خرمني نه جوړ وي او د غرونو ختلو پۀ وخت پۀ پښو کولے شي-

سګلاوو:(سګ-لا-وو)اسم- واحد- مذکر- سګلاهو- یو قسم دُ ابو ځناور چې دُ کیدړ هومره وي-

سګلاهو:(سګ-لا-هو)اسم- واحد- مذکر- وګورئ: سګلاوو-

سګلي:(سګ-لي)اسم- واحد،جمع- مؤنث- وګورئ: سلګي-

سګلے:(سګ-لے)اسم- وګورئ: خاګله-

سګ ماهي:(سګ-ما-هي)اسم- وګورئ: پیولا-

سګ مګس:(سګ-مګس)اسم- دُ سپي مچ-

سګنے:(س-ګ-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- دُ سخکال- دُ سرکال-

سګوان:(سګ-وان)اسم صفت- سپي ساتونکے- دُ سپو پالنه کونکے-

سګه:(سه-ګه)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم غرنیزه هوسۍ-

سګه:(س-ګه)اسم- واحد- مؤنث- پانګه- پنګه- سرمایه- ذخیره- مال و دولت-

سګهار:(سګ-هار)اسم- شهار- سهوهار- سوهار-

سګے:(سه-ګے)اسم- واحد- مذکر- دُ ځناور او بنیادم دننه یو اندام- اینه- بښتورګے-

سل:(سل)اسم- جمع- پینځۀ شلې- دُ ۹۹ او ۱۰۱ تر مینځه عدد (۱۰۰)-

سل:(سل)اسم- واحد- مذکر- جاله- دُ کشتئ یو قسم- جمع سلونه- (م- فارسي)- (۲)پېرزوښه- خواهش- سود-

سل:(سل)اسم- واحد- مذکر- یو موذي مرض چې پرپوس پکښې زخمي شي او وینه تري بهیږي- دک- مره خوږ- نرے رنځ-

سلا:(س-لا)اسم- واحد- مؤنث- صلاح- مشوره- مصلحت- خوښه-

سلابلا:(س-لا-بـ-لا)متعلق فعل- هیڅ بې هیڅه- بې سببه- ناحقه-

www.pukhto.net

وچ په وچه-

سلاجيت:(س-لا-جيت)اسم- واحد- مذکر- دُ بعضې غرونو د کانونو نه حاصلېدونکې ماده چې د اعصابو محکمولو دارو گڼلے شي- د غرونو خوله-

سلاح:(س-لاح)اسم- واحد- مذکر- وسله- د جنگ جگړې اوزار- (م- عربي)-

سلاح خانه:(س-لاح-خا-نه)اسم- واحد- مؤنث- دُ وسلې دُ ساتنې او ذخيره کولو ځائې- سلاح کوټ-

سلاح کوټ:(س-لاح-کوټ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ: سلاح خانه-

سلاد:(س-لاد)اسم- واحد/جمع- مذکر- سلات- سلاته- سلته- چکنۍ- چټانۍ- پودينه- پياز- باټينګر-

سلاره:(س-لا-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: سلارې-

سلارې:(س-لا-رې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- سلاره- دُ زنانوُ يو قسم ريښمين پرونے يا لوپټه-

سلاست:(س-لا-ست)اسم- واحد- مذکر- رواني- اساني- نرمي- سادګي- په کلام يا تحرير کښې دُ ثقيلو الفاظو نه ځان ژغورنه- (م- عربي)-

سلاسل:(س-لا-سل)اسم- جمع- مذکر- زنځير- بېړی- هغه زنځيرونه چې دُ بندی کولو په غرض پرې سړے تړلے شي- (م- عربي)-

سلاسوم:(س-لا-سوم)اسم- واحد- مذکر- پيشوپرانګ- پړانګ پيش- پناهش-

سلاطين:(س-لا-طين)اسم- جمع- مذکر- دُ سلطان جمع- بادشاهان- شاهي خاندان-

سلاکار:(س-لا-کار)اسم صفت- مشوره ورکونکے- مشير- صلاح کار-

سلالی:(س-لا-لی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: سلارې-

سلام:(س-لام)اسم- واحد- مذکر- (۱)سلامتي- تعظيم- (۲)عېب نه لرنه- (۳)دُ خداې پاک يو صفتي نوم-

سلامت:(س-لا-مت)اسم صفت- روغ جوړ- روغ رمټ- (۲)بې عيبه- بې ورته-

سلامتي:(س-لا-م-تي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)روغتيا- صحتمندي- تندرستي- (۲)بې عيبي-

سلامتيا:(س-لا-م-تيا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: سلامتي-

سلام کلام:(س-لام-ک-لام)اسم مرکب- عليک سليک- دُعا سلام- سلام دُعا-

سلامی:(س-لا-مي)اسم- واحد- مؤنث- دُ وادهٔ په شپه ناوې ته دُ خاوند له خوا ورکېدونکې تحفه- دُ وادهٔ خلمی ته دُ پالنګ ختو په وخت دُ سخرګنی له خوا ورکېدونکې پيسې-

سلانه:(س-لا-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: ګمکړيکے-

سلائی:(س-لا-ئی)اسم- واحد- مذکر- هغه نرے ډکے چې پرې سترګو کښې رانجهٔ اچولے شي-

سلب:(سلب)اسم- په زور احستنه- شوکونه- جدا کونه- (م- عربي)-

سل برغ:(سل-برغ)اسم عدد- سل غبرګه- سل چنده- سل ځلې-

سل برګ:(سل-برګ)اسم- واحد- مذکر- يو مشهور ګل- صدبرګ- ګل مزاره-

سل بل:(سل-بل)متعلق فعل- سلا بلا سره- هر څهٔ-

سلبول:(سل-بو-ول)مصدر- په زور اخستل- محرومول- شوکول-

سلبېدل:(سل-بې-دل)مصدر- محرومېدل- شوکېدل- جدا کېدل-

سل په سل:(سل-په-سل)اسم مرکب- سل سل- په سلو کښې سل-

سلت:(س-لت)الاحقه- دا کلمه دُ لفظ 'غلط' سره راځی او دُ غلط په معنی کښې زور پيدا کوی-

سلته:(س-لته)اسم- واحد- مذکر- (۱)پال- (۲)سنګر- سلته-

سلته:(سل-تہ)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مورچه- مورچل- سلته- (۲)مضبوطي- استحکام-

سل چنده:(سل-چن-ده)اسم عدد- وګورئ: سل برغ-

سلح:(س-لح)اسم- واحد- مذکر- وګورئ: سلاح-

سلح خانه:(س-لح-خا-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: سلاح خانه

سلخ:(سلخ)اسم- واحد- مذکر- دُ قمری مياشتې آخرنی ورځ- (م- هندی)-

سل ژبے:(سل-ژ-بے)اسم- واحد- مذکر- صدبرګ ګل- ګل صدبرګ-

سل سل:(سل-سل)اسم عدد- سېکړه سېکړه- په شماره کښې دُ سلو سلو په ځائې پکارېږی-

سلسبيل:(سل-س-بيل)اسم- واحد- مذکر- دُ جنت دُ يوې ولې نوم چې شات (شهد) او پئ پکښې بهيږی- (م- عربي)-

سلسلت:(سل-س-لت)اسم- واحد بجمع- مذکر- دبدبه- شان و شوکت- ساز و سامان-

سلسله:(سل-س-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)لړی- زنځير- وېدوالے- قطار- پرله پسې والے- (۲)کورنی- (م- عربي)-

سلطان:(سل-طان)اسم صفت- باچا- بادشاه- واکمن- اختيارمن- حکم چلونکے-

سلطاني:(سل-طا-ني)صفت- سلطان سره متعلق- سلطان پورې مربوط-

سلطنت:(سل-ط-نت)اسم- واحد- مذکر- بادشاهي- حکمراني- حکومت-

سلطه:(سل-طه)اسم- واحد- مؤنث- قوت- زور- واک- اختيار- قدرت- (افغانستان)- (عربي)-

سلغمات:(سل-غ-مات)اسم- سنګ پشت- شمشتې- ميچنې-

سلف:(س-لف)اسم- واحد- مذکر- تېر شوی- پخوانی خلق- اولنی خلق- دُ تېرې زمانې مخلوق- (م- عربي)-

سل کاله:(سل-کا-له)اسم- صدی- پېړی-

سلک:(سلک)اسم- واحد- مذکر- (۱)دُ موتيانو (مرغلرو) هار يا لړی- (۲)قطار- پله- صف- (م- عربي)-

سل کروړه:(سل-کرو-ړه)اسم عدد- وګورئ: ارب-

سل کلن:(سل-ک-لن)اسم صفت- سل کلنے- دُ سلو کالو-

سل کلنے:(سل-ک-ل-نے)اسم صفت- دُ سلو کالو سړے- هغه سړے چې عمر ئ

ئ" (ئي-رل)، ی"(مې-ره-ول)، ی"(پيا-لې)، ے"(تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ: تشريحات صفحه ۹

www.pukhto.net

سل کاله وی- سل کلن-

سلک:(س-لک)اسم- واحد- مذکر- هغه لو شوی غنم چي لا غوبل شوی نه وی-

سلکه:(سل-که)اسم- واحد- مؤنث- دٔ غنم دٔ وانوی هغه برخه چي ورے وریوری بیښتے وی-

سلکی:(سل-کی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- سکلی- ایټکی- بیتي نښتي ژړا-

سلم:(س-لم)اسم- د غلي د خریداری نه وړاندي د هغي قیمت ادا کونه- (م- عربی)-

سلم:(س-لم س-لم)اسم صفت- سلم عدد- سلم نمبر- دٔ سلو عدد سره متعلق-

سلم:(س-لم)اسم- واحد- مذکر- ټبر- قبیله- خاندان- خېل- طائفه-

سلمانی:(سل-ما-نی)اسم- واحد- مذکر- نائی- هغه څوک چي دٔ خلقو سرونه او ویري جوړوی- (الحلاسان)-

سلمچی:(س-لم-چی)اسم- واحد- مذکر- چیلمچی- لاس وینځونکے-

سلمشر:(سل-مه-شر)اسم صفت- د سلو سپاهیانو مشر- یوه فوځی عهده-

سلمه:(سل-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)حیرانتیا- تعجب- حیرت- اریانی- (۲)د سرو یا سپینو یو قسم پرقېدونکے تار چي پهٔ کپړه یا څپلو پري بوټي وغیره کولے شي-

سلمه:(سل-مه)اسم- واحد- مؤنث- کورنی- خېل- قبیله- خاندان- ټبر-

سلمه ستاره:(سل-مه-س-تا-ره)اسم مرکب- سلمه او ورسره ستاری پکښ رهنه- دٔ سلمه ستاری کار-

سلنده:(سلن-ده)اسم صفت- واحد- مؤنث- شنډه ښځه- هغه ښځه چي بچي يې نهٔ کیږی-

سلوا:(سل-وا)اسم- واحد- مذکر- مرز- بټېر- سلویٰ- (م- عربی)-

سلواعه:(سل-وا-عه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)بوکه- دٔ ګرمني هغه لوښے چي دٔ کومی نه پري ابهٔ راوېستے شي- (۲)د سلوی مباشت-

سلوتری:(س-لو-تری)اسم صفت- سنوتری- دٔ ښکرو معالج- دٔ ګاروو ډاکټر- (م- هندی)-

سلوک:(س-لوک)اسم- واحد- مذکر- رویه- کردار- طور طریقه- خویٔ خصلت-

سلوکی:(س-لو-کی)اسم- محور- عرتمند-

سلوم:(سلوم)اسم صفت- (۱)څرګند- ښکاره- (۲)نوموړے- مشهور-

سلونه:(س-لو-نه)اسم- نمکین-

سلونه توب:(س-لو-نه-توب)اسم- نمکین توب-

سلوه:(سل-وه)اسم- واحد- مؤنث- مرسته- مهربانی- مهربانګی-

سلوی:(سل-وی)اسم- واحد- مذکر- هغه طعام چي خدایٔ پاک به بني اسرائیلو ته د مرزو پهٔ شکل کښي پهٔ کثرت سره ورکولو- سلوا-

سله:(س-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د غنمو یا اربشو د وږی لشه- لشکی- (۲)هغه تندی غوا چي پښ يې پېر ټیسک او غوږ وی-

سله:(سه-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خښته- خشته- (۲)د خښتي قالب- دٔ خښتي سانچه- چکی-

سلیپو:(س-لی-پو)اسم- واحد- مذکر- یو قسم بوټان چي پېر پهٔ اسانه پهٔ پښو کښي اچولے شي-

سلیت:(سلیت)اسم صفت- سلیت- تر خلي خلي پک- بي شانه پک-

سلیتی:(س-لی-تی)اسم- واحد- مؤنث- چلی- ترمکړ- ترنګړ-

سلیچه:(س-لی-چه)اسم- واحد- مؤنث- سکین-

سلیز:(سه-لیز)اسم صفت- دٔ سلو- سلم- دٔ سلو روپیو نوټ-

سلیر:(س-لیر)اسم صفت- د ترتیب پهٔ لحاظ سلم- د سلو-

سلیس:(س-لیس)اسم- واحد/جمع- مذکر- آسان- ساده- عام فهم- دٔ ګران یا مشکل ضد-

سلیقه:(س-لی-قه)اسم- واحد- مؤنث- تمیز- هنر- لیاقت- سنجیدګی-

سلمکه:(سل-مکه)اسم- واحد- مؤنث- څریکه- داره- بربین-

سلیم:(س-لیم)اسم صفت- نرم زړے- ښهٔ زړے- هغه څوک چي د زړهٔ نه پېر سه وی-

سلیټ:(س-لیټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)هر هغه ماده چي دٔ خاورو شکو نه جوړه شوی وی- (۲)هغه توره تختی چي پهٔ چاک یا سلیټی پري لیکل کیږی-

سلیټی:(س-لی-ټی)اسم- هغه سپین سخت چاک چي پهٔ سلیټ وریاندي لیکل کېږی-

سلبین:(سلبین)اسم- واحد جمع- مذکر- سلېښت- سرېښ- سرېښ- ګوند-

سلبیناک:(سلبین-ناک)اسم صفت- د سلبینو یا سریښو اثر لرونکے- سلبیژن-

سلبیناکه:(سلبین-ناکه)اسم صفت- واحد- مؤنث/مذکر- سرېښناکه- پهٔ سلبینو لړلے-

سلبېښت:(سلبېښت)اسم- واحد/جمع- مذکر- وګوری سلبین-

سلبیکی:(سلبین-کی)اسم- سرېښ- سلبین-

سلیمان:(س-لے-مان)اسم- د یو مشهور پېغمبر نوم چي پهٔ انسانانو، پېریانو او ښامارو به يې حکومت کولو- دٔ ځناورو او حشراتو پهٔ ژبه پوهېدو-

سلیمانی:(س-لے-ما-نی)اسم صفت- (۱)یو قسم تور او سپین رنګ لرونکے کانړے چي د اوږهٔ کولو نه پس سترګو کښي واچولے شي نو دا خبره مشهوره ده چي هغه کس ته هر څهٔ ښکاری خو هغه چا ته نهٔ ښکاری- (۲)حضرت سلیمان علیه السلام ته منسوب-

سلیمانی:(س-لي-ما-نی)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم غمے یا مری چي ډېره مبارکه ګڼلے شي-

سلی:(س-لی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د تیوبک صفا کولو سیخ چي لهٔ اسپني جوړ وی- (۲)انسار- ډیرے- بلی- خری- کوته-

سلے:(س-لے)اسم- واحد- مذکر- د پیټلو یا جستو ګټمه- بي غمی ګټه-

سم:(سم)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- روغ- جوړ- نیغ- درست- برابر- صحیح- مؤنث سمه-

سم:(سم)اسم- واحد جمع- مذکر- زهر- وژونکے څیز- ګندېږه- جر-

www.pukhto.net

(م- عربي)-

سَمْ:(سَم)اسم- واحد- مذکر- غار- سُرے- دٙ ستنې سورے- سروے- مېم- (م- عربي)-

سما:(سَ-ما)اسم- واحد- مذکر- (۱)سماٙ- آسمان- (۲)چت-

سماد:(سَ-ماد)اسم- سمون- عدل-

سماج:(سَ-ماج)اسم- واحد- مذکر- تهذيب- معاشره- (م- سنسکرت)-

سماجت:(سَ-ما-جت)اسم- واحد- مذکر- (۱)ټينګېدنه- (۲)ټرپوېدنه- (۳)منت- خوشامده- فرياد- (م- عربي)-

سماجي:(سَ-ما-جي)اسم صفت- دٙ سماج سره متعلق-

سماچه:(سَ-ما-چه)اسم- واحد- مؤنث- سينه بند- بلوې- هغه پوشاک چې زنانه يې سينې ته اچوي-

سماسه:(سَ-ما-سه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سموسه-

سماع:(سَ-ماع)اسم- واحد- مذکر- اورېدنه- (م- عربي)-

سماعت:(سَ-ما-عت)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سماع- (م- عربي)-

سماعي:(سَ-ما-عي)اسم صفت- (۱)اورېدلے- (۲)دٙ اورېدو- دٙ اورېدو سره متعلق-

سماغ:(سَ-ماغ)اسم- واحد- مذکر- يو قسم ونه او دٙ هغې مېوه چې تريو خوند لري-

سمانه:(سَ-مانه)اسم- واحد- مؤنث- پېل و وال- آغ و پوبه- سامانه-

سماو:(سَ-ماو)اسم- واحد- مذکر- (۱)عدل- انصاف- (۲)سموالے- درست والے-

سماوات:(سَ-ما-وات)اسم- جمع- مذکر- دٙ سماٙ جمع- اسمانونه- وګورئ سماٙ-

سماوات:(سَ-مه-وات)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سره سمواتي-

سماوار:(سَ-ما-وار)اسم- واحد- مذکر- لهٙ زيړو نه جوړ دٙ اُبو کرمولو لوښے چې بعبه يکښې لګېدلې وي-

سمباتي:(سم-با-تي)اسم- کناتي- سمباتي-

سمباتي:(سم-با-تي)اسم- کُناتي- سمباتي-

سمبال:(سَم-بال)اسم صفت- سنبال- (۱)جوړ- تيار- برابر- (۲)سينګار کړے- مؤنث سمباله-

سمبالښت:(سم-بال-ښت)اسم- سنبالښت- (۱)تيارے- برابرے- (۲)سينګارونه- ږول ږال- (۳)حفاظت-

سمبالول:(سَم-با-ل-وَل)مصدر متعدي- (۱)جوړول- تيارول- برابرول- (۲)سينګارول-

سمبالون:(سم-با-ل-ون)حاصل مصدر- وګورئ سمبالول-

سمبالونکے:(سم-با-ل-وون-کے)اسم فاعل- جمع سمبالونکي- مؤنث سمبالونکې- وګورئ سمبالول-

سمبالونګ:(سم-با-ل-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سمبالول-

سمبالونه:(سم-با-ل-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ سمبالول-

سمبالوَه:(سم-با-ل-وَه)حاصل مصدر- وګورئ سمبالول-

سمبالي:(سم-با-لي)اسم- واحد- مذکر- (۱)انتظام- سمبالېدنه- سمبالښت- (۲- صفت)سمبالونکے-

سمبالېدل:(سَم-با-لې-دل)مصدر لازم- (۱)جوړېدل- تيارېدل- برابرېدل- (۲)سينګارېدل-

سمبالېدن:(سم-با-لې-دن)حاصل مصدر- وګورئ سمبالېدل-

سمبالېدنګ:(سم-با-لې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سمبالېدل-

سمبالېدنه:(سم-با-لې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ سمبالېدل-

سمبالېدونکے:(سم-با-لې-دون-کے)اسم فاعل- جمع سمبالېدونکي- مؤنث سمبالېدونکې- وګورئ سمبالېدل-

سمبالېده:(سم-با-لې-ده)حاصل مصدر- وګورئ سمبالېدل-

سمبوسه:(سم-بو-سه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سموسه- (م- فارسي)-

سمبوغکه:(سم-بو-غه-که)اسم- واحد- مؤنث- وړوکے او تنګ لوښے- (افغانستان)-

سمبه:(سم-به)اسم- واحد- مؤنث- تبر يا ترنخ کښې دٙ لاستي اچولو سُورے-

سمت:(سَ-مت سَمت/سمت)اسم- واحد- مذکر- (۱)طرف- خوا- لور- لورے- پلو- (م- عربي)- (۲)کافي مقدار- پوره اندازه-

سمتره:(سم-ت-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سنګتره-

سمته:(سَ-مه-ته)اسم- واحد- مؤنث- برابر مقدار- کافي- جمع سمتې-

سمټ:(س-مټ)اسم صفت- واحد- مذکر- لويه پګړي-

سمټر:(سَ-مه-ټر)اسم صفت- بېر څربه- غوبنن- چاغ- ډېر غټ- شلنږ-

سمټه:(سَ-مه-ټه)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)لويه پګړي- غټ پټکے- (۲)چاغه- څربه- شلنږه-

سمټے:(سم-ټے)اسم- واحد- مذکر- دٙ وړو ماشومانو يوه لوبه چې پهٙ کاڼو يې کوي- (افغانستان)-

سمچين:(سم-چين)اسم- زمکه کښې څهٙ شے جوړونه او بيا پوښنه- زمين دوز- کاکړ؛-

سمڅ:(س-مڅ)اسم- واحد- مذکر- سمڅه- غار- کاړه- پهٙ غره کښې قدرتي غار-

سمڅه:(س-مڅه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سمڅ-

سمخ:(س-مخ)الاحقه- دٙ سُور سره يوځاې راځي او دٙ تاکيد پهٙ معنو کښې استعمالېږي-

سمخ سترګے:(سَ-مخ-ستر-ګے)اسم صفت- کلک سترګے- شوخ چشمه- سپين سترګے-

سمخټے:(سَ-مه-خټے)اسم- واحد- مذکر- جونګړه- هغه کېږدۍ چې دٙ زړو ټوکرانو نه جوړېږي- (افغانستان)-

سمدار:(سم-دار)اسم صفت- لکې وال- لکے وال- لکې لرونکے-

ي: (ځي-ول)، ې: (هې-ره-ول)، ے: (پيا-لے)، ۍ: (ټن-ډي) تفصيل دٙ پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

سمدست:(سم-دست)متعلقِ فعل- سمدستي- سم د لاسه- فوراً- ناګهانه- ناڅاپه- اتفاقاً-

سمدستي:(سَم-دَس-تي)متعلقِ فعل- فوراً- د سترګو رپ کښې- ښتی- ژر- بې له ځنډه-

سم د لاسه:(سَم-دَ-لاسه)مرکب متعلقِ فعل- وګورئ سمدستي-

سمدم:(سَم-دم)اسم صفت- (۱)روغ جوړ- ایغ نیغ- روغ رمټ- سالم- (۲)اصل- برابر-

سمدي:(سَم-دَ-ني)اسم صفت- سمدستي- ناګهانه- ناڅاپه-

سمر:(سَ-مَر)اسم- واحد- مذکر- هغه وړه قيصي چې ماشومانو ته د لوڼه کيدو نه مخکښې اوړولے شي- (م- عربي)-

سمرن:(سَم-رن)اسم- واحد- مذکر- (۱)د هندوانو د عبادت کولو مالا- (۲)تور- (کاکړ)-

سمساتنه:(سم-سا-تَـ-نه)اسم- امانت-

سمساره:(سم-سا-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سمسره-

سمسره:(سم-سـ-ره)اسم- واحد- مؤنث- سمسيره- سمساره- سوسماره- شلخورکه-

سمسود:(سَم-سود)اسم- واحد- مذکر- د انار د ونې په شان يوه زمرژنه غرنيزه ونه-

سمسور:(سَم-سور)اسم صفت- تروتازه- شګفته- غوړيدلے- رسيدلے فصل-

سمسورتوب:(سَم-سور-توب)اسم- واحد- مذکر- (۱)د ګلونو او ونو غوړيدنه- (۲)د فصل پخيدنه-

سمسورتيا:(سَم-سور-تيا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سمسورتوب-

سمسوروالے:(سَم-سور-والے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سمسورتوب-

سمسورول:(سَم-سو-ر-ول)مصدرِ متعدي- (۱)تروتازه کول- ګلونه غوړول- (۲)فصل پخول- (۳)آبادول-

سمسورون:(سَم-سو-ر-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ سمسورول-

سمسورونکے:(سَم-سو-ر-رون-کے)اسم فاعل- جمع سمسورونکي- مؤنث سمسورونکې- وګورئ سمسورول-

سمسورونګ:(سَم-سو-ر-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ سمسورول-

سمسورونه:(سَم-سو-ر-و-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ سمسورول-

سمسوروڼه:(سَم-سو-ر-وڼه)حاصلِ مصدر- وګورئ سمسورول-

سمسوري:(سَم-سو-ري)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وګورئ سمسورتوب- (۲)غيرت-

سمسوريدل:(سَم-سو-ري-دل)مصدرِ لازم- (۱)تروتازه کيدل- (۲)پخيدل- (۳)ځواني ته رسيدل- (۴)آباديدل-

سمسوريدن:(سَم-سو-ري-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ سمسوريدل-

سمسوريدنګ:(سَم-سو-ري-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ سمسوريدل-

سمسوريدنه:(سَم-سو-ري-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ سمسوريدل-

سمسوريدونکے:(سَم-سو-ري-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ سمسوريدل-

سمسوريده:(سَم-سو-ري-ده)حاصلِ مصدر- وګورئ سمسوريدل-

سمسورے:(سَم-سو-رے)اسم صفت- يو شان- په يوه انداز- رتبه او طاقت کښې مساوي- برابر- سارے- انډول- مانند-

سمسيره:(سم-سي-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سمسره-

سمښت:(س-مَښت)اسم- واحد- مذکر- سمون- برابري- برابروالے-

سمښت:(سمښت)اسم- واحد- مذکر- بغض- کينه- حسد-

سمع:(س-مع)اسم- واحد- مذکر- (۱)غوږ- د اوريدو حس- (۲)اوريدنه-

سمعي:(سم-عي)اسم- واحد- مذکر- د اوريدو- هغه څه چې اوريدے شي-

سمغولي:(سَم-غو-لي)اسم- واحد جمع- مؤنث- سمغالے- د سوي د وسېدو ځاے-

سمک:(س-مک)اسم- واحد- مذکر- کب- ماهي- مهي-

سمند:(س-مَند)اسم- واحد- مذکر- زيږبخن اس-

سمندر:(س-مَن-دَر)اسم- واحد- مذکر- (۱)لوي درياب- بحر- (۲)اورمېږک- سيني- د اور چينجے-

سمندروز:(س-مند-روز)اسم- واحد- مذکر- يو قسم ريښمينه کپړه- (افغانستان)-

سمندري:(س-مَن-دَري)اسم صفت- سمندر سره متعلق- وګورئ سمندر-

سمندے:(س-مَن-دے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم زيړ رنګ لرونکے مرغه-

سمنړول:(س-مَن-ړول)اسم- واحد- مذکر- شين ګلے- شوم ګل- يو قسم وابښه-

سمنکے:(س-من-کے)اسم- واحد- مذکر- يو وړوکے دسترخوان چې په ورپورې يا پېرو يه دې غرض خوړولے شي چې ګرد يا دوړه پرې ونه غورځيږي-

سمنه:(س-مَنه)اسم- واحد- مؤنث- اصلاح- ترتيب- سمون- برابري- سمونه-

سموالے:(سَم-والے)اسم- واحد- مذکر- صحيح والے- درست والے- نيغ والے- سمون-

سمور:(س-مُور)اسم- واحد- مذکر- د ګيدړ نه لږ وړوکے تور رنګ لرونکے ځناور چې د ګرمئ نه ئې تروېي او د ګالو استر جوړولے شي- تورلمے-

سموسه:(س-مو-سه)اسم- واحد- مؤنث- مخروطي شکل لرونکے د مېدې نه جوړ يو قسم خوراک چې مينځ کښې ئې قيمه، الوګان، پياز او ننيا وغيره کېږ وي او غوړيو کښې تليدلے وي-

سمول:(س-م-ول)مصدرِ متعدي- (۱)برابرول- جوړول- تنظيمول- رغول- (۲)اصلاح کول- لارې ته راوستل-

سموم:(س-موم)اسم- واحد جمع- مذکر- ګرمه هوا- زهريله هوا- جوله-

سمون:(س-مون)اسم- واحد- مذکر- سمے- برابرے- روغ والے- تصحيح- جوړښت- موافقت-

سمون:(س-م-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ سمول-

سمونتون:(س-مون-تون)اسم- واحد- مذکر- کارخانه- فيکټري- هغه ځاے

www.pukhto.net

چې مصنوعات پکښې تیاریږي-

سمونکے:(س-م-وون-کے)اسم فاعل- جمع سمونکي- مؤنث سمونکې- وګورئ: بسمول-

سمونګ:(س-م-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ: سمول-

سمونه:(س-م-و-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ: سمول-

سموۀ:(س-م-وۀ)حاصلِ مصدر- وګورئ: سمول-

سمه:(س-مه)اسم صفت- واحد- (۱)دَ سم مؤنث- وګورئ: سَم- (۲)درسته خبره- صحیح خبره- (۳)هواره- مسطح-

سمي:(س-مي)اسم صفت- دَ زمرو- زمرڅن-

سمیار:(سم-یار)اسم صفت- چمیار- موچي-

سمیع:(س-میع)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)اورېدونکے- (۲)دَ خدایٔ پاک یو صفتي نوم-

سمېدل:(س-مې-دل)مصدرِ لازم- (۱)برابرېدل- جوړېدل- تنظیمېدل- روغېدل- رغېدل- (۲)لارې ته برابرېدل- اصلاح کېدل-

سمېدن:(س-مې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ: سمېدل-

سمېدنګ:(س-مې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ: سمېدل-

سمېدنه:(س-مې-د-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ: سمېدل-

سمېدونکے:(س-مې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ: سمېدل-

سمېدۀ:(س-مې-دۀ)حاصلِ مصدر- وګورئ: سمېدل-

سمے:(س-مے)اسم- (۱)سمون- برابرے- جوړ- تړون- پېوند- سموالے- (۲)کهګر-

سن:(سن)اسم- واحد- مذکر- عمر- کال- دَ عمر مقدار-

سنا:(سنا/س-نا)اسم- واحد- مؤنث- دَ مشرانو جرګه- دَ مشرانو مجلس-

سناخ:(س-ناخ)اسم- کوهي-

سنار:(س-نار)اسم صفت- واحد- مذکر- زرګر- صراف-

سناري:(س-نا-ري)اسم- (۱)سکالي- پاولي- (۲)زرګري- (۳- صفت)طلاکاري شوے- مطلا-

سناسي:(س-نا-سي)اسم- واحد- مذکر- وګورئ: سنهاسي-

سنان:(س-نان)اسم- واحد- مذکر- دَ نېزې تېره څوکه- دَ غشي څوکه- شلګے- برجو- بانډ-

سنبال:(سم-بال)اسم صفت- سمبال- (۱)جوړشوے- تیار- برابر- (۲)ږول سینګار کړے-

سنبالښت:(سم-با-لښت)اسم- واحد- مذکر- وګورئ: سمبالښت-

سنبالول:(سم-با-لول)مصدرِ متعدي- وګورئ: سمبالول-

سنبل:(سم-بل)اسم- واحد- مذکر- یو قسم بوټے او دَ هغې ګل چې زړۀ راکښونکې خوشبوئي کوي او دَ نرۍ نرۍ تارونو په شکل کښې لیدے شي- ځنې- ځنې کوکو-

سنبل زار:(سم-بل-زار)اسم- هغه ځایٔ چې دَ سنبل ګلونه پکښې کېږي-

سنت:(س-نت)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ اسلامي قانون دویم ماخذ- طریقه- روش- (۲)دَ حضرت محمد صلی الله علیه وسلم طور طریقه او عادت و اطوار- (۳)سونت- ختنه- هغه طریقه چې دَ مسلمانانو بچو نه دَ شرعي احکاماتو مطابق دَ چوني (سوځي) دَ سر پسته حصه پرېکولے شي-

سنتروزه:(سنت-رو-زه)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم مېوه-

سنتره:(سن-ت-ره)اسم- واحد- مؤنث- خوږکمبیرے- سنګتره- دَ مالټې په شان یوه اُبۀ لرونکې مېوه-

سنتري:(سن-تري)اسم- واحد- مذکر- سرکاري پهره دار- سپاهي- څوکیدار- جمع سنتریان-

سنتول:(س-ن-تول)مصدرِ متعدي- (۱)ختنه کول- سونتول- په ماشوم والي دَ ذکر دَ سر نه اضافي غوښه پرېکول- (۲)دَ چا نه په تګي څۀ اخستل یا شوکول-

سنتون:(س-ن-تون)حاصلِ مصدر- وګورئ: سنتول-

سنتونکے:(س-ن-ت-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ: سنتول-

سنتونه:(س-ن-ت-و-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ: سنتول-

سنتېدل:(س-ن-تې-دل)مصدرِ لازم- سونتېدل- ختنه کېدل- په ماشوم والي دَ ذکر دَ سر نه اضافي غوښه پرېکېدل- (۲)مجازاً دَ چا نه په تګي څۀ اخستے کېدل یا شوکېدل-

سنتېدن:(س-ن-تې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ: سنتېدل-

سنتېدنګ:(س-ن-تې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ: سنتېدل-

سنتېدنه:(س-ن-تې-د-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ: سنتېدل-

سنتېدونکے:(س-ن-تې-دون-کے)اسم فاعل- جمع سنتېدونکي- مؤنث سنتېدونکې- وګورئ: سنتېدل-

سنتېدۀ:(س-ن-تې-دۀ)حاصلِ مصدر- وګورئ: سنتېدل-

سنته:(س-ن-ته)اسم- واحد- مؤنث- غړاشکے- یو غرنیز بوټے-

سنت:(س-نت)اسم- واحد- مذکر- سهکے- سندان-

سنبه:(سن-به)اسم- واحد- مؤنث- (۱)څېره- قیافه- بڼه- (۲)النبه- (افغانستان)-

سنج:(سنج)اسم- واحد- مذکر- هغه نرے دېوال چې دَ کوټې دَ پاسه دَ پردې راوستو دَ پاره چارچاپېره تاو وي-

سنج:(سنج)اسم صفت- غمژن- پرېشانه- خفه- دلګیر- دق-

سنجاب:(سن-جاب)اسم- واحد- مذکر- دَ پیش نه لږ وړوکے ځناور-

سنجاق:(سن-جاق)اسم- واحد- مذکر- دَ ستېل یو قسم وړه ستن چې یو سر ئې تېرۀ او بل غټ وي-

سنجتوب:(سنج-توب)اسم- واحد- مذکر- غمژن توب- پرېشاني- خفګان-

سنجوالے:(سنج-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ: سنجتوب-

سنجول:(س-ن-ج-ول)مصدرِ متعدي- تلل- اندازه کول-

سنجولے:(س-ن-ج-و-لے)اسم مفعول- جمع سنجولي- مؤنث سنجولې- وګورئ:

ئ: (ښې-رل)، ي: (مې-ره-وَل)، ئ: (پیا-لې)، ے: (تن-دے) تفصیل دَ پاره وګورئ: تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

سنحول-

سنجون (سن-ج-ون)حاصل مصدر- وګورئ سنجول-

سنجونکے (سن-ج-ون-کے)اسم فاعل- جمع سنجونکي- مؤنث سنجونکې- وګورئ سنحول-

سنجونګ (سن-ج-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سنجول-

سنجونه (سن-ج-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ سنجول-

سنجیته (سن-جي-ته)اسم- واحد- مؤنث- د ولې (بید) په شان یو قسم ونه-

سنجیده (سن-جي-ده)اسم صفت- مهذب- د عقل او فکر خاوند-

سنجېدل (سن-جي-دل)مصدر لازم- اندازه کېدل- تللے کېدل-

سنجېدلے (سن-جي-د-لے)اسم مفعول- جمع سنجېدلي- مؤنث سنجېدلې- وګورئ سنجېدل-

سنجېدن (سن-جي-دن)حاصل مصدر- وګورئ سنجېدل-

سنجېدنګ (سن-جي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سنجېدل-

سنجېدنه (سن-جي-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ سنجېدل-

سنجېدونکے (سن-جي-دون-کے)اسم فاعل- جمع سنجېدونکي- مؤنث سنجېدونکې- وګورئ سنجېدل-

سنجېده (سن-جي-ده)حاصل مصدر- وګورئ سنجېدل-

سنخل (سن-خل)مصدر متعدي- (۱)شړول- خالي کول- (۲)آزادول- خوشې کول- ایله کول-

سنخلې (سن-خلې)اسم- واحد- مؤنث- سېزنې- د ماشومانو د روږې (اروږې) د ترلو مزے-

سنخے (سن-خے)اسم- وګورئ خمزورے-

سنچوټ (سن-چوټ)اسم- واحد- مذکر- هغه تیږه یا کاڼے چې په دېوال کښې د نښې په غرض ایښودے کېږي-

سند (س-ند)اسم- واحد- مذکر- (۱)ثبوت- سرټیفیکټ- سرټیفکټ- وثوق- اعتبار- (۲)هغه تحریر چې تعلیم یا څه اهم څیز ثابتوي- تصدیق نامه- لیکلے حکم-

سند (سند)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سیند- (افغانستان)-

سندان (سن-دان)اسم- واحد- مذکر- د اوسپنې ګوډۍ چې لوهاران وربانډې اوسپنه ږدي او بیا ئې په پټک ټکوي-

سندانکه (سن-دا-نه-که)اسم- واحد- مؤنث- د چرګ چرګوړو شاتېنکه- (افغانستان)-

سندر (سن-در)اسم صفت- (۱)ښکلې- ښائسته- حسینه- (۲)یو قسم مضبوط لرګے چې جهازونه ترې جوړولے شي- (۳)وګورئ سندور-

سندربول (سن-در-بول)اسم صفت- وګورئ سندرغاړے- مؤنث سندربوله-

سندرغاړے (سن-در-غا-ړے)اسم صفت- سندربول- سندرې ویونکے- د ساز سره آواز ویستونکے- لوبې ویونکے-

سندرکه (سن-در-که)اسم- واحد- مؤنث- د ابو قواره-

سندره (سن-د-ره)اسم- واحد- مؤنث- لوبه- ترانه- جمع سندرې-

سندریورے (سند-ري-ورے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم صحرائے واښه چې نرې پاڼې ئې لري-

سندړ (سن-دړ)اسم- واحد- مذکر- یو قسم غټ اوښ- (افغانستان)-

سندوخ (سن-دوخ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ صندوق- (افغانستان)-

سندوته (سن-دو-ته)اسم- واحد- مؤنث- زیړ ګل لرونکې یوه ونه او د هغې میوه-

سندوچه (سن-دو-چه)اسم تصغیر- صندوقچه- وړوکے صندوق-

سندور (سن-دور)اسم- جمع- مذکر- سوندر- یو قسم سره سفوف- سیندور- سندر-

سندورے (سن-دو-رے)اسم- هغه ژاږه چې سر ئې سور مائل وي-

سندول (سن-د-ول)مصدر متعدي- رائې ورکول- مشوره ورکول- سفارش کول- مصلحت کول-

سندے (سن-دے)اسم- واحد- مذکر- د ګل لاله بوټے-

سنه (سنه)اسم- واحد- مذکر- یو قسم بوټے او د هغې بټ چې وړے ترې جوړولے شي-

سنړا (سن-ړا)اسم- واحد- مذکر- (۱)د میږې نر- (۲- صفت)مجازاً غټ کټ او خوب سړے-

سنړاس (سن-ړاس)اسم- واحد- مذکر- سنړاس- تښتي- غسل خانه- پاخانه-

سنړاسي (سن-ړا-سي)اسم- واحد- مذکر- هغه ملنګ یا فقیر چې په غرونو او صحراګانو د کیمیا په بوټي پسې ګرځي-

سنړکه (سن-ړ-که)اسم- واحد- مذکر- د مستو یا شلو د جنولو ټوکره-

سنړل (سن-ړل)مصدر لازم- څه څیز په زوره اوچتول راخلاصول- سنړول- سنړل-

سنړسنړ (سنړ-سنړ)اسم صفت- غټ پټ- تکړه تیار- ښه ګورب او چاق-

سنړن (سن-ړن)حاصل مصدر- وګورئ سنړل-

سنړنګ (سن-ړنګ)حاصل مصدر- وګورئ سنړل-

سنړنه (سن-ړ-نه)حاصل مصدر- وګورئ سنړل-

سنړونکے (سن-ړون-کے)اسم فاعل- جمع سنړونکي- مؤنث سنړونکې- وګورئ سنړل-

سنړه (سن-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)صحرائي توره زرکه- (۲- صفت)شنډه ښځه- (۳)هغه چرګه چې اګۍ نه اچوي-

سنزلوک (سن-ز-لوک)اسم- واحد- مذکر- یو قسم واښه چې د بلوط د ونې لاندې رازرغونېږي او همېشه شین وي-

سنزله (سن-ز-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)سنځلې- (۲)یوه ونه چې لکه د مرچو میوه نیسي-

سنسکرت (سن-سک-رت)اسم- واحد- مذکر- (۱)صفا- پاک- پاکیزه- (۲) د هندوانو یوه پخوانۍ ژبه-

زبر (ح-بیه-ره)، زورکے (شل)، پېښ (نو-کا-ره)، زېر (ک-تاب)، جزم (شکون)، ۂ (ز-ره)، ۀ (پو-ښې-ده)

www.pukhto.net

سنګ:(سَ-نګ)اسم- واحد- مذکر- د لرګی یا حاورو نه جوړ غټ شانګ-
سنګه:(سَ-نَګه)اسم- واحد- مؤنث- د کونترو نیولو یو قسم لومه-
سنګیا:(سنګ-یا)اسم- واحد- مذکر- (۱)زرنیخ- یو زهرژن کانړے- (۲)مر مَضر
څیز-
سنګ:(سنګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)کانړے- (۲)وزن- بوج- (م- فارسی)-
سنګ:(سنګ)اسم صوت- (۱)د ماشوم د ژړا نرے آواز- (۲)د چوپړ د کولی
آواز-
سنګار:(سنګ-ګار)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سینګار-
سنګارول:(سنګ-ګا-ر-وَل)مصدرِ متعدی- جوړول- ښائسته کول- سمبالول-
ښکلی کول-
سنګارون:(سنګ-ګا-ر-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ سنګارول-
سنګارونکے:(سنګ-ګا-ر-وون-کے)اسم فاعل- جمع سنګارونکی- مؤنث
سنګارونکې- وګورئ سنګارول-
سنګارونګ:(سنګ-ګا-ر-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ سنګارول-
سنګارونه:(سنګ-ګا-ر-وَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ سنګارول-
سنګاروۀ:(سنګ-ګا-ر-وۀ)حاصلِ مصدر- وګورئ سنګارول-
سنګاره:(سنګ-ګا-ره)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم ازغن بوټے چې صوی ته ئې
سینګاره وائی- د دې بوټي خیلی په ابو کښې وی-
سنګاری:(سن-ګا-ری)اسم- واحد جمع- مؤنث- د کبانو مشهور قسم چې رنګ
ئې پړک سور یا باتینګړی وی-
سنګاړ:(سینګ-ګا-وړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)پتوار- سکان- د کشتۍ
وروستی برخه- (۲)هغه لویه چپه چې کشتۍ پرې چلولے شی-
سنګتا:(سنګ-تا)اسم- واحد- مؤنث- د یوې دوائی نوم-
سنګتاژ:(سنګ-تاژ)اسم- واحد- مذکر- یو قسم ترکیبی درمل-
سنګتیا:(سنګ-تیا)اسم- واحد- مؤنث- زرنیخ- منړګ چړ-
سنګ تراش:(سنګ-تَ-راش)اسم صفت- کاڼی تونکو والا- قیمتی کاڼی نه غمی
جوړونکے- د کاڼو نه څیزونه جوړونکے-
سنګ تراشي:(سنګ-تَرا-شي)اسم- واحد- مؤنث- د سنګ تراش کار او پېشه-
سنګتره:(سنګ-تَ-ره)اسم- واحد- مؤنث- د مالټې د خاندان یوه میوه چې
خوږ خوند لری او پوستکے ئې پېر په آسانه جدا کیږی- د CITRUS د
خاندان یوه ونه او د هغې میوه-
سنګټ:(سنګ-ګټ)اسم- واحد- مذکر- قفس-
سنګدان:(سنګ-دان)اسم- واحد- مذکر- د چرګ شاتینګه-
سنګدل:(سنګ-دل)اسم صفت- سخت سړے- ظالم- بې رحمه- د کلک زړۀ
خاوند-
سنګدلي:(سنګ-دَ-لي)اسم- واحد- مؤنث- بې رحمي- ظلم-
سنګر:(سنګ-ګر)اسم- واحد- مذکر- (۱)مورچل- مورچه- (۲)کچه ملا-
(۳)پشته-

سنګرانی:(سنګ-را-ني)اسم صفت- تېزرفتاره آس-
سنګره:(سنګ-ره)اسم- واحد- مؤنث- د جنډ د ونې پڼے-
سنګری:(سنګ-ري)اسم- جمع- مؤنث- غټې وریږې- د شولې وریږې-
سنګرېزه:(سنګ-رې-زه)اسم- جمع- مؤنث- باجری- چانکړ- واړۀ کاڼی-
سنګړه:(سنګ-ګَ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- پلنه او غټه تیږه-
سنګزن:(سنګ-زَن)اسم صفت- غنګزن- په ترخ-
سنګسار:(سنګ-سار)(۱- اسم صفت)هغه څوک چې د څۀ سزا په وجه په کاڼو
دې حد له وویشتے شی چې مړ شی- (۲- اسم)پېر وژنه- د کاڼو په
ویشتو مړکونه-
سنګسارول:(سنګ-سا-ر-وَل)مصدرِ متعدی- په کاڼو ویشتل او مړۀ کول-
سنګسارون:(سنګ-سا-ر-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ سنګسارول-
سنګسارونکے:(سنګ-سا-ر-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ
سنګسارول-
سنګسارونه:(سنګ-سا-ر-وَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ سنګسارول-
سنګسارېدل:(سنګ-سا-رې-دَل)مصدرِ لازم- په کاڼو ویشتلے کېدل او
مړۀ کېدل-
سنګسارېدن:(سنګ-سا-رې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ سنګسارېدل-
سنګسارېدنه:(سنګ-سا-رې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ سنګسارېدل-
سنګسارېدونکے:(سنګ-سا-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع
سنګسارېدونکی- مؤنث سنګسارېدونکې- وګورئ سنګسارېدل-
سنګسارېدۀ:(سنګ-سا-رې-دۀ)حاصلِ مصدر- وګورئ سنګسارېدل-
سنګ سول:(سنګ-سول)اسم- واحد- مذکر- د شمالی علاقو په غرونو کښې
پیدا کېدونکے یو قسم بوټے-
سنګک:(سنګ-ګک)صفت- (۱)متکر- مټکور- (۲)د بخنی لۀ کبله د حبوباتو یا
په ونو کښې د میوو وچېدنه- (۳)مشکله موضوع یا کار-
سنګکه:(سنګ-ګَ-که)اسم- واحد- مؤنث- د زنانو یوه بیماری چې د اولاد د
پیدا کېدو نه پس پیدا کیږی- (افغانستان)-
سنګلاخ:(سنګ-لاخ)اسم- واحد- مذکر- (۱)سکوره- کُداله- کُدالی-
(۲)کاښۀ- رمکه-
سنګلاو:(سنګ-لاو)اسم- واحد- مذکر- یو آبی ځناور- سګلاحو-
سنګوپ:(سنګ-ګوپ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سرکونړی- سرکنړی-
سرلاپی- سرکول- سرکونړو- (افغانستان)-
سنګوټے:(سنګ-ګو-ټے)اسم- واحد- مذکر- د سوي بچے-
سنګورے:(سنګ-ګو-رے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم صحرائے بوټے-
سنګوړے:(سنګ-ګو-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)د ځناور بچے- (۲)ښائسته او
ښکلے ماشوم-
سنګیت:(سنګ-ګیت)اسم- واحد- مذکر- د موسیقی علم- د موسیقی پوهه-
سنګین:(سنګ-ګین)اسم صفت- (۱)د دبدبې او وقار څښتن- دروند- پټ من-

ئ" (ځی-رل)، ې"(مې-رمول)، ئ"(پیا-ملي)، "ے"(تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www pukhto net

(۲)یو قسم پشقوره چي په توپکه کښې لګولے شي۔

سنګېږ :(سنګ-ګېږ)اسم- واحد- مذکر- شګلنه زمکه- کاڼيزه زمکه- شګلوړه زمکه۔

سنول:(س-نَ-ول)مصدر متعدی- شپول- خوځول- حرکت ورکول۔

سنون:(س-نُ-ون)حاصل مصدر- وګورئ سنول۔

سنونکے:(سَ-ن-وون-کے)اسم فاعل- جمع سنونکی- مؤنث سنونکې- وګورئ سنول۔

سنونګ:(س-ن-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سنول۔

سنونه:(س-ن-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ سنول۔

سنوۀ:(سَ-ن-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ سنول۔

سنه:(س-نه)اسم- واحد- مؤنث- سن- نېټه- موده- کال- عمر- تاريخ۔

سنهن:(سن-هن)اسم صفت- توربخن- تورغونے- کلوټ- سکاڼ۔

سُنی:(سُ-ني)اسم صفت- (۱)اهلِ سُنت والجماعت- دُ حضرت محمد صلی الله عليه وسلم دُ سنتو پېرروکار- (۲)دُ مسلمانانو هغه فرقه چي دُ حضرت محمد صلی الله عليه وسلم نه پس حضرت ابوبکر صديق، حضرت عمر، حضرت عثمان او حضرت علی باالترتيب خليفه ګاڼ ني۔

سنيار:(سُن-يار)اسم- واحد- مذکر- زرګر۔

سنياس:(سَن-ياس)اسم- واحد- مذکر- جوګي توب- سادو توب- فقيري- دُ دنيا نه کناره کشي- (م- سنسکرت)۔

سنياسي:(سن-يا-سي)اسم صفت- (۱)دُ دنيا نه کناره کش- جوګي- سادُو- فقير- (۲)وګورئ سنياسي- (م- هندي)۔

سنياله:(سن-يا-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ مرونډي۔

سنيچر:(سُ-نی-چر)اسم- واحد- مذکر- (۱)دُ خالی ورځ- دُ هفتې ورځ- (۲)يوه ډېره سست رفتاره او منحوسه سياره- زُحل۔

سنېدل:(سُ-نې-دل)مصدرِ لازم- شنېدل- خوځېدل- حرکت ورکولے کېدل۔

سنېدلے:(سُ-نې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع سنېدلي- مؤنث سنېدلې- وګورئ سنېدل۔

سنېدن:(سُ-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ سنېدل۔

سنېدنګ:(سُ-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سنېدل۔

سنېدنه:(سُ-نې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ سنېدل۔

سنېدونکے:(سُ-نې-دُون-کے)اسم فاعل- جمع سنېدونکی- مؤنث سنېدونکې- وګورئ سنېدل۔

سنېدۀ:(سُ-نې-دۀ)حاصل مصدر- وګورئ سنېدل۔

سنې:(سُ-نې)اسم- واحد جمع- مؤنث- سوترې- دُ ورې يا سپنسو نه جوړ نرے پړے- نرۍ رسۍ۔

سن:(سِن)اسم- واحد- مذکر- (۱)دروغ- درويغ- (افغانستان)- (۲)وګورئ سونډ- (۳)دُ پوزې دُ سن کولو اواز۔

سنا:(سُ-نا)اسم صوت- د سپېرمو آواز۔

سنکه سنکه:(سَن-که-سَن-که)اسم مرکب- هين هين کونه- په ژړا کښې خلۀ ورانونه۔

سنو:(س-نو)اسم صفت- ګنو- زګنو۔

سو:(سو)اسم صفت- زخمي- ټپي- ژوبل- پرهرژلے۔

سو:(سو)اسم- واحد- مذکر- (۱)بدی- شر- فساد- (۲)جانب- طرف- سمت۔

سوا:(سُ-وا)اسم- واحد- مذکر- (۱)يو قسم ساګ- (۲)يو قسم وندنے چي کبان پکښې ښېلے کېږي- (۳)سووا- يو قسم ګياه۔

سوا:(سُو-وا)اسم- واحد- مذکر- سود- ربا- (افغانستان)۔

سوا:(س-وا)صفت- (۱)زيانی- پرته- پورته- (۲) بغير- بي له دې نه۔

سوابق:(س-وا-بق)اسم- جمع- مذکر- دُ سابق جمع- وګورئ سابق۔

سوابېره:(سَو-وا-بي-ره)اسم- واحد- مؤنث- دُ بېرې دُ خاندان يوه ونه او دُ هغې مېوه۔

سواحل:(سَ-وا-حل)اسم- جمع- مذکر- دُ ساحل جمع- غاړې- دُ سمندر يا سند ژۍ۔

سواد:(س-واد)اسم صفت- توربخن- تورواله- تور رنګ ته مائل۔

سوار:(سَ-وار)اسم صفت- سور- سپور- په اس يا بل يو ځناور سورلی کونکے۔

سوارکار:(س-وار-کار)اسم صفت- (۱)په اس دُ سورلي کولو ماهر- (۲)چابک۔

سواره:(س-وا-ره)اسم- واحد- مؤنث- دُ غنمو ږېږ- دروزه- دُ غنمو تيلی- (۲)رساله۔

سواره کهلی:(سَوار-هکهـ-لي)اسم- مؤنث- دُ يوې لوبې نوم۔

سوارۀ:(سوا-رۀ)اسم صفت- دُ سوار جمع- وګورئ سوار۔

سواری:(س-وا-ری)اسم- واحد- مؤنث- سورلی- په اس، هاتي، موټر، لاری يا جهاز وغيره سوربدنه۔

سوارې:(سَ-وا-رې)اسم- واحد- مؤنث- دُ نماښام مېلمستيا- دُ نماښام دعوت- (افغانستان)۔

سوال:(سَوال)اسم- واحد- مذکر- (۱)پوښتنه- پښتنه- تپوس- پُرس- (۲)خواست- خېرات غښتنه- غښتنه- (۳)عرض- التجا- درخواست- (م- عربی)۔

سوال جواب:(سَوال-جَواب)اسم مرکب- (۱)چا ته خبر کونه- (۲)بحث- حجت۔

سوالګر:(سوال-ګر)اسم صفت- سوالګرندے- سوالګرے- سوال کونکے- فقير- ګدا- خېرات غښتونکے۔

سوالګرندے:(سَوال-ګرن-دے)اسم صفت- سوالګر- سوالګرے- سوالي- خېرمار- چرمار۔

سوالګرے:(سوال-ګرے)اسم صفت- خېرمار- سوالي- حاجتمند- سوالګر- سوالګرندے۔

سوالی:(سوا-لي)اسم صفت- سوال کونکے- فقير- ګدا- خېرات غښتونکے۔

www pukhto net

سوالگر- سوالگرندې- سوالگرې-

سوالي خور:(سْوا-لي-خور)اسم صفت- سوالیندک- مفت خور- تیارخور-

سوالیندک:(سْوا-لین-دک)اسم صفت- وګورئ سوالي خور-

سوالیه:(سْوا-لی-یه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پوښتنه- پښتنه- استفهام- تپوس- (۲)دَ سوال پښتلو نښه (؟)-

سوان:(سْوان)اسم- واحد- مذکر- دَ اُسپني مچلو یوه فولادي آله- دَ چاړې چاتو یا نور دَ داسې څیزونو تېرهٔ کولو آله-

سوانح:(سَ-وا-نح)اسم- واحد- مذکر- دَ ژوند حالات- دَ ژوند لیک- دَ سانحه جمع- (م- عربي)-

سوانح عمری:(سَ-وا-نح-عُم-ري)اسم- واحد- مؤنث- دَ چا دَ ژوند حالات-

سوانح نګار:(سَ-وا-نح-نِ-ګار)اسم صفت- دَ چا دَ ژوند حالات لیکونکې-

سوانده:(سوان-ده)اسم صفت- سوې لوې- لوغړن- نیم سوخته-

سوان کاري:(سْوان-کا-ري)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دَ سوان بوړ- هغه بوره چې دَ تانبې دَ سوانولو نه ودرېږي-

سوانګ:(سْوانګ)اسم- واحد- مذکر- دَ چا نقل کونه- دَ چا پېښې کونه- دَ شکل او جامې بدلونه-

سوانګ:(سَ-وانګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ غنمو د تېغو نه پخېدونکې یو قسم حلوه- (۲)نقل- پېښې- جادو- ټټاله-

سوانګې:(سوانګ-ګې)اسم صفت- جادوګر- منتري- نقلي- مسخرې کونکې- اداکار- (افغانستان)-

سوانه:(سَ-وا-نه)اسم- واحد- مؤنث- آسانتیا- آساني- سواني-

سواني:(سَ-وا-نې)اسم- واحد- مؤنث- آساني- سوانه-

سوائي:(س-وا-ئي)اسم- واحد- مؤنث- زیاتي- سر دَ پاسه- وګورئ سوا-

سوائي خور:(سَ-وا-ئی-خور)اسم صفت- سودخور- سودمار- دَ سود کاروبار کونکې-

سوب:(سوب)اسم- واحد- مذکر- حاضر- موجود- په طمع- په استطار-

سوب:(سَ-وُب)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سبب-

سوب:(سَ-وُب)اسم- واحد- مذکر- چاره- علاج- (افغانستان)-

سوبت:(سو-بت)اسم- واحد- مذکر- (۱)پېښه- په جمع خوراک کونه- (۲)تفریح کونه-

سوب ګیر:(سَ-وُب-ګیر)اسم صفت- چاره ساز- مددګار- کار ویستونکې-

سوبله:(سوب-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ شوبله-

سوبمن:(سَ-وُب-مَن)اسم صفت- بریالې- فاتح- کامران- مرادمن-

سوبه:(سو-به)اسم- واحد- مؤنث- مراد- مقصد- خواهش- غښته-

سوبې:(سو-بې)اسم- ساګ- سابه-

سوپ:(سوپ)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ دروازې درشل- (۲)یو قسم کېږه چې په مختلفو رنګونو کښې جوړیږي- (۳)ښوروا- شوروا- (م- انګریزي)-

سوپره:(سْو-پ-ره)اسم- واحد- مؤنث- کونه- مقعد- سومبې- دَ لویو بولو اندام-

سوپړې:(سو-پ-ړې)اسم صفت- (۱)کوني- مفعول- کونه ورکونکې- (۲)نامرد- ردیل-

سوپه:(سو-په)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سوټه ۱-

سوپېڅه:(سْو-پې-څه)اسم صفت- پواړه- بدرنګه- ناقابله (ښځه)-

سوپي:(سو-پي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)بېزو- شادو- (۲)کشکره- کیشکره-

سوپې:(سو-پې)اسم- واحد- مذکر- دَ سوپي مذکر- بیز- دَ بیزوګانو نر حس-

سوتره:(سْوت-ره)اسم صفت- پاک- صاف- صفا- سْتره-

سوتره صفا:(سوت-ره-ص-فا)اسم مرکب- پاک و صاف- صفاسوتره-

سوترې:(سْوت-رې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دَ بوجۍ کنډلو نرې مزې- سوتلي-

سوتل:(سو-تل)فعل- ساتل- خوشحالول-

سوتلي:(سْوت-لي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- سنې- کنې- دَ سْنو مزې یا پېر نرې پړې-

سوتن:(سو-تن)اسم- واحد- مذکر- چوس مار سپې- هغه سپې چې بوی وهي-

سوتونه:(سو-تو-نه)اسم- جمع- مذکر- زېږګي- زوېرګي- زګېروي- فریادونه-

سوټ:(سُوټ)اسم- واحد- مذکر- جوړه جامه- (م- انګریزي)-

سوټ:(سَ-ووټ)اسم صفت- دَ څیزونو ساتونکې- (افغانستان)-

سوټ بوټ:(سوټ-بوټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)سخت- سوخت- (۲)په تهره- په غصه- (۳)سر، پښې لو لاسونه یوځای کونه- (۴)نېشن- پړل-

سوټکه:(سو-ټ-که)اسم- واحد- مؤنث- د جوارو رېږ-

سوټکې:(سوټ-کې)اسم- واحد- مذکر- (۱)یو قسم اغزن بوټې- (۲)دَ حد ټاکلو نښه- (افغانستان)-

سوټمار:(سْوټ-مار)اسم صفت- (۱)بنجاري- هغه سړې چې کلیو کښې د منیارۍ سامان خرڅوي- (۲)وګورئ سوټن-

سوټن:(سو-ټن)اسم صفت- سوټمار- بې کاره- حقیر- پرندوکې- غلن- دربول-

سوټه:(سو-ټه)اسم- واحد- مؤنث- فضله- سوبه- دَ کارو فضله-

سوټه:(سو-ټه)اسم- واحد- مذکر- د جوارو هغه توکه چې پخه نهٔ وي- شحوله لرونکې ورې- (افغانستان)-

سوټه لمې:(سْو-ټه-لمې)اسم صفت- (۱)لټ او ناراسته کاروې- (۲)تمبل مخې او بې پوله سړې-

سوټې:(سو-ټې)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ لرګی غټه ډنډه- (۲)چقماق- بکره-

سوجي:(سْو-جي)اسم- واحد بجمع- مؤنث- یو قسم زاړهٔ اوړهٔ چې حلوه تري پخولې شي-

سوخل:(سْو-خَل)مصدر متعدي- سوخول- سوزول- په څهٔ څیز اور بلول-

ی = (څی-رل)، ې = (مې-ره-ول)، ی = (پیا-لی)، ه = (تن-دې) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

لمبه کول- څۀ څیز پۀ اور کښې سوزول-

سوځلے:(سو-ځۀ-لے)اسم مفعول- جمع سوځلی- مؤنث سوځلې- وګورئ سوځل-

سوځند:(سو-ځند)صفت- (۱)سوځېدونکے- سوونکے- (۲)سېزونکے- سوځونکے-

سوځنګ:(سو-ځنګ)حاصل مصدر- وګورئ سوځل-

سوځنه:(سو-ځۀ-نه)حاصل مصدر- وګورئ سوځل-

سوځول:(سو-ځ-ول)مصدر متعدی- سېزل- سوزول- اوور وراچول- اور ورته کول- وګورئ سوځل-

سوځولے:(سو-ځ-وۀ-لے)اسم مفعول- جمع سوځولی- مؤنث سوځولې- وګورئ سوځول-

سوځون:(سو-ځ-ون)حاصل مصدر- وګورئ سوځول-

سوځونکے:(سو-ځ-وون-کے)اسم فاعل- جمع سوځونکی- مؤنث سوځونکې- وګورئ سوځول-

سوځونګ:(سو-ځ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سوځول-

سوځونه:(سو-ځ-وۀ-نه)حاصل مصدر- وګورئ سوځول-

سوځوۀ:(سو-ځ-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ سوځول-

سوځېدل:(سو-ځې-دل)مصدر لازم- پۀ څه څیز اور لګېدل- پۀ چا اور لګېدل- لمبه کېدل- اور اخستل- سول- سوزېدل-

سوځېدلے:(سو-ځې-دۀ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ سوځېدل-

سوځېدن:(سو-ځې-دن)حاصل مصدر- وګورئ سوځېدل-

سوځېدنګ:(سو-ځې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سوځېدل-

سوځېدنه:(سو-ځې-دۀ-نه)حاصل مصدر- وګورئ سوځېدل-

سوځېدونکے:(سو-ځې-دون-کے)اسم فاعل- جمع سوځېدونکی- مؤنث سوځېدونکې- وګورئ سوځېدل-

سوځېدۀ:(سو-ځې-دۀ)حاصل مصدر- وګورئ سوځېدل-

سوچ:(سوچ)اسم- واحد- مذکر- عقل- فکر- پام- پوهه- خیال- تصور-

سوچه:(سو-چه)اسم صفت- (۱)خالص- صفا- اصلي- (۲)د ریښمو نه جوړه کپړه-

سوچه توب:(سو-چه-توب)اسم- واحد- مذکر- پاکوالے- صفا والے- اصلي والے- خالص والے-

سوچه والے:(سو-چه-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سوچه توب-

سوچي:(سو-چي)اسم صفت- سوچ کونکے- فکر کونکے- تشویش کونکے-

سوخت:(سوخت)اسم- واحد- مذکر- سخت- (۱)قهر- غصه- (۲)درد- خوږ- (۳)سوزېدلے-

سوختر:(سوخ-تر)اسم- واحد- مذکر- سوریدنه- سوزونه-

سوختګان:(سوخ-ت-ګان)اسم صفت- جمع- مذکر- سوی- عاشقان-

سوختول:(سوخ-ت-ول)مصدر متعدی- تاؤ نیول- غصه کول- پۀ قهر کول- ذهني عذاب ورکول-

سوختولے:(سوخ-تۀ-وۀ-لے)اسم مفعول- جمع سوختولی- مؤنث سوختولې- وګورئ سوختول-

سوختون:(سوخ-تۀ-ون)حاصل مصدر- وګورئ سوختول-

سوختونکے:(سوخ-تۀ-وون-کے)اسم فاعل- جمع سوختونکی- مؤنث سوختونکې- وګورئ سوختول-

سوختونګ:(سوخ-تۀ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سوختول-

سوختونه:(سوخ-تۀ-وۀ-نه)حاصل مصدر- وګورئ سوختول-

سوختوۀ:(سوخ-تۀ-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ سوختول-

سوخته:(سوخ-ته)صفت- (۱)سوے- سوزېدلے- کباب شوے- (۲- اسم)هغه سکاره چې د چیلم پۀ سرخانه کښې ایښودے شي- سکور-

سوختېدل:(سوخ-تې-دل)مصدر لازم- تاؤ تېرېدل- تاؤ خوړل- غصه کېدل- پۀ قهر کېدل-

سوختېدلے:(سوخ-تې-دۀ-لے)اسم مفعول- جمع سوختېدلی- مؤنث سوختېدلې- وګورئ سوختېدل-

سوختېدن:(سوخ-تې-دن)حاصل مصدر- وګورئ سوختېدل-

سوختېدنګ:(سوخ-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سوختېدل-

سوختېدنه:(سوخ-تې-دۀ-نه)حاصل مصدر- وګورئ سوختېدل-

سوختېدونکے:(سوخ-تې-دون-کے)اسم فاعل- جمع سوختېدونکی- مؤنث سوختېدونکې- وګورئ سوختېدل-

سوختېدۀ:(سوخ-تې-دۀ)حاصل مصدر- وګورئ سوختېدل-

سوخر:(سو-خر)اسم- واحد- مذکر- بغض- کینه- حسد- عناد- (افغانستان)-

سوخړه:(سوخ-ړه)اسم- واحد جمع- مؤنث- د سرې غوښې بوټي- د بې هډوکي غوښې بوټي-

سوخړی:(سوخ-ړی)اسم صفت- واحد- مؤنث- بېر خوږین- ډېر پوخ- د خوږین والي د وجې لېټي شوے- (افغانستان)-

سوخکه:(سوخ-که)اسم- واحد- مؤنث- تله- جامه-

سوخل:(سو-خل)مصدر متعدی- سوخول- (۱)منډل- تخته کول- (۲)سورے کول- (۳)چوخول- چخول-

سوخول:(سو-خ-ول)مصدر متعدی- سوخل- (۱)منډل- تخته کول- کښېمندل- کښمندل- (۲)سورے کول- (۳)څوخول- چخول-

سوخولے:(سو-خ-وۀ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع سوخولی- مؤنث سوخولې- وګورئ سوخول-

سوخون:(سو-خ-ون)حاصل مصدر- وګورئ سوخول-

سوخونکے:(سو-خ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع سوخونکی- مؤنث سوخونکې- وګورئ سوخول-

سوخونګ:(سو-خ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سوخول-

سوخونه:(سو-خ-وۀ-نه)حاصل مصدر- وګورئ سوخول-

www pukhto.net

سوخوهٔ:(سو-خ-وهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ سوخول-

سوخي:(سو-خي)اسم- واحد جمع- مؤنث- پکه- دکړ- غين- د ماشومانو حوټه-

سوخېدل:(سو-خې-دل)مصدر لازم- (۱)سوري سوري کېدل- (۲)وکدل- کبمنډلے کېدل- چوخېدل- ګوخېدل-

سوخېدلے:(سو-خې-دَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع سوخېدلي- مؤنث سوخېدلې- وګورئ سوخېدل-

سوخېدن:(سو-خې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ سوخېدل-

سوخېدنګ:(سو-خې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ سوخېدل-

سوخېدنه:(سو-خې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ سوخېدل-

سوخېدونکے:(سو-خې-دون-کے)اسمِ فاعل- جمع سوخېدونکي- مؤنث سوخېدونکې- وګورئ سوخېدل-

سوخېدهٔ:(سو-خې-دهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ سوخېدل-

سود:(سُود)اسم- واحد- مذکر- (۱)ګټه- فائده- نفع- دٔ زيان ضد- (۲)هغه اضافي رقم چې قرض خوا ته د قرض واپس کولو سره ورکولے شي-

سود:(سود)اسم- واحد- مذکر- (۱)تسکين- دمه- آرام- ولې- (۲)شعور- عقل- هوش-

سودا:(سو-دا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خريد و فروخت- اخستنه او خرڅونه- (۲)غم- فکر- تلوسه- جمع سوداګانې-

سوداګر:(سو-دا-ګر)اسمِ صفت- تاجر- هغه څوک چې تجارت کوي-

سوداګري:(سو-دا-ګَ-ري)اسم- واحد- مؤنث- دٔ سوداګر کار او پېشه-

سوداني:(سو-دا-ني)اسمِ صفت- واحد- مذکر/مؤنث- ليوانه- لېونے- وسواسي- فکرژن-

سوداني توب:(سو-دا-ني-توب)اسم- واحد- مؤنث- دٔ سوداني حالت- د جنون حالت-

سودبود:(سُود-بُود)اسم مرکب- نفع نقصان- ښهٔ او بد- خودبود-

سودخوارهٔ:(سُود-خوا-رهٔ)اسم- جمع- مذکر- وګورئ سودخور-

سودخور:(سُود-خور)اسمِ صفت- سود اخستونکے- څان ته فائده او بل ته تاوان رسونکے- جمع سودخوارهٔ-

سود سودا:(سُود-سو-دا)اسم- جمع- مؤنث- سودا- خرڅ- سوږ سپېرکي- د بازار ټکه ټوکه-

سودکن:(سُود-کَن)اسم صفت- ګټور- سودمن- فائده من-

سودکنه:(سُود-کَ-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)سودهٔ- راحت- اسودګي- (۲- صفت)وګورئ سودکن-

سودمن:(سُود-من)اسم صفت- ګټور- فائده من- مُفيد- ښهٔ-

سودمند:(سود-مند)اسم صفت- وګورئ سودمن-

سودمندي:(سُود-من-دي)اسم- واحد- مؤنث- کاميابي- سودمني- ګټورتوب- ښهٔ والے-

سودمني:(سود-مَ-ني)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سودمندي-

سوده:(سو-ده)اسم صفت- (۱)هغه څاروے چې دٔ ښکو نوکو نه ئ سولېدلي وي- (۲)بېخي- بالکل- ننه- تېرل-

سوره:(س-و-ده)اسم- واحد- مؤنث- د مزري جوړه توکري- شکري- (اصلاسنال)-

سودهٔ:(سو-دهٔ)اسم- واحد- مؤنث- (۱)سود- تسلي- اطمينان- (۲)سادهٔ- بوله-

سودا:(سو-دا)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)يو کيمياني مواد چې په شربتونو وغيره کښې استعمالولے شي- (۲)دوه مختلف قسمه سپين پوډر چې يو د جامو وينځلو او بل د اوړو وغيره د پستولو د پاره ېکارولے شي-

سوبر:(سو-بر)اسم- واحد- مذکر- (۱)خنزير- سرکوزے- سور- (۲- صفت)مجازاً لټ غوټے- (۲)بې ادبه سړے-

سوده:(س-و-ېه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)لاپه- لافه- بلېه- دروغ خېرهه پوزه- (۲)چل- ټګي-

سوبے:(س-و-بے)اسم صفت- لافي- دوږن- لاټو- لاپو-

سور:(سور)اسم- واحد- مذکر- (۱)سور رنګ- (۲)په وينو سور- مؤنث سره-

سور:(سور)اسم- واحد- مذکر- سوار- هغه اس، هاتي يا بل د سورلۍ ځناور- سور- سپور-

سور:(سور)اسم صفت- تلېدلے- وريت شوے- په غوړيو کښې ترڅکېدلے-

سور:(سُو-ور سُور)اسم- واحد- مذکر- دٔ ګيدړ نه لږ غټ خړ رنګ لرونکے يو ناپاکه او مردار ځناور- سرکوزے- خنزير- بدځناور-

سوراړ:(سو-راړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)دښت- صحرا- بې آب و ګيا بيابان- (۲)سخته ګرمي- (۲)د ګرمۍ د موسم ډېره ګرمه مياشت-

سوراړ:(سو-را-ړ)اسم- سپېره ډاګه- دښت- صحرا- سوراړ-

سوراغزے:(سور-اغ-زے)اسم- واحد- مذکر- يو غرنيز او اغزن بوټے- سور ارغے-

سورامليے:(سور-ام-لے)اسم- يو قسم سره املي-

سوران:(سُو-ران)اسم- واحد- مذکر- (۱)ګرم باد- ګرمه هوا- (۲)يو مرض چې د ګرمۍ له کبله پېدا کېږي او مريض پکښې ډېر زيات تږے کېږي- (۳)چغې سورې- هاې کوکار- وير- ژړا انګولا- (۴)حرص- لالچ-

سورانه:(سو-را-نه)اسم- واحد- مؤنث- کوکاره-

سوراني:(سو-را-نے)اسم صفت- ويرژن- فرياد کونکے- ساندې ويونکے- ماتم کونکے- چغې وهونکے- چېرو-

سوربنا:(سو-ر-بنا)اسم صفت- وګورئ سورپوزے-

سورباټينګن:(سُور-با-تينګ-ګن)اسم- واحد- مذکر- سورباټينګڼ- ټماټر- جمع سرهٔ باټنګڼ-

سورخن:(سور-بـ-خن)اسم صفت- سور رنګ ته مائل- پيکه سور- تت سور-

سوربکري:(سور-بـکَ-ري)اسم- جمع- مؤنث- کاسيره-

سوربپے:(سور-بـپے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سورپلے-

www.pukhto.net

سوربنې:(سُور-بَ-نې)اسم صفت- وګورئ سوربونې-

سوربونې:(سور-بُو-نې)اسم صفت- سوربخن- هغه سړے چې رنګ ئې سُور وي- سوراِنا-

سورپتکنې:(سُور-پ-تک-نې)اسم- سره خاوري- سره خاوره- سره پتکئي- سره پتکري-

سورپلے:(سُور-پ-لے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم وابئه چې د غنمو په فصل کښې راشين کيږي- سوربلئے-

سورپور:(سُور-پور)اسم صفت- (۱)تريخ- تريو- قهر په مخه کړے- تندخويه- (۲)په وينو ککړ- په وينو سور شوے- جمع سرهٔ پرهٔ-

سورپوستے:(سُور-پوس-تے)اسم صفت- (۱)انګريز- فرنګے- پېرنګے- (۲)هغه څوک چې رنګ او وېښتهٔ ئې سرهٔ وي-

سورت:(سُو-رَت)اسم- واحد- مذکر- سورة- دَ قرآن مجيد دَ ۱۱۴ حصو نه يوه حصه- جمع سورتونه-

سورتيکري:(سُور-تيک-ري)اسم صفت- (۱)هغه ښځه چې په سر ئې مرګ ژوبله وشي- (۲)هغه ښځه چې خاوند ئې په نښتي کښې مړ شي- (افغانستان)-

سورخکه:(سُور-خَ-که)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ څرخکه-

سورخلے:(سُور-خَ-لے)اسم صفت- (۱)خونخوار- ظالم- قتل ته تيار ناست سړے- (۲)غصه ناک- قهرژن-

سورخي:(سُور-خي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ زنانئو دَ ځان سينګارولو په وخت هغه سور رنګ چې په شونډو ئې لګوي- (۲)سرليک- عنوان-

سورخے:(سُور-خے)اسم- واحد- مذکر- د غنمو يا ګنو دَ فصل يو قسم بيماري چې فصل تباه کوي-

سوردلے:(سُور-دَ-لے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم مرغئ- (افغانستان)-

سوردوډک:(سور-دو-ډک)اسم- واحد- مذکر- يو قسم سره مرغئ-

سور ډاګ:(سُور-ډاګ)اسم- دښت- صحرا- مېره-

سوروه:(سو-ر-وه)اسم- واحد- مؤنث- د يوې مرغئ نامه-

سورسات:(سُور-سات)اسم- واحد- مذکر- دَ خوراک هغه سامان يا ذخيره چې دَ حکومت له طرفه دَ فوج دَ پاره په زور اخستلے کيږي-

سور سالو:(سُور-سا-لو)اسم- واحد- مذکر- سور زروکے- سالو- د پېغلو او جينکو دَ پېړلتوب او مستئ لوپټهٔ-

سورساندے:(سُور-سان-دے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم سور ګل لرونکے وابئه چې دَ ونجولو نه پس ښاروو ته دَ ختې بيماريو دَ پاره ورکولے شي-

سورسانوه:(سور-سان-وه)اسم- واحد- مذکر- ساندې ويونکے- زوړ سوران کونکے-

سورسترګے:(سُور-ستر-ګے)اسم صفت- (۱)هغه څوک چې سترګې ئې سرې وي- (۲)غصه ناک-

سورسرے:(سُور-سَ-رے)اسم صفت- هغه څوک چې د سر وېښتهٔ ئې سرهٔ وي-

سورغاړے:(سُور-غا-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)يو قسم وړه مرغئ-

(۲)د بټېر يو قسم-

سورکت:(سور-کت)اسم- واحد- مذکر- دَ خلې دَ پخېدو يو قسم دوائي-

سورکونډو:(سُور-کُون-ډو)اسم- واحد- مؤنث- هغه جينئ چې وادهٔ يا کوږدن نهٔ وي او جل پکے تيچي کوي-

سورکے:(سور-کے)اسم- واحد- مذکر- آلو- نباتاتي نوم سولانم ټيوبراسم -SOLANUM TUBEROSUM-

سورکے:(سُور-کے)اسم صفت- (۱)سوربخن- سور وزمه- (۲)دَ سور اسم تصغير-

سورکانے:(سُور-کا-نے)اسم صفت- وګورئ سوربخن-

سورګړے:(سور-ګَ-ړے)اسم- واحد جمع- مذکر- يو غرئيز وابئه چې ښاروي ئې خوري- نباتاتي نوم دَ پاره وګورئ سرګړے-

سورګلے:(سور-ګَ-لے)اسم- واحد جمع- مذکر- يو بوټے چې سُور ګل نيسي او دَ ساګ په ځاي استعماليږي- سورګولے-

سورګوګے:(سور-ګو-ګے)اسم- واحد جمع- مذکر- يو قسم ساګ-

سورګولے:(سُور-ګو-لے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم ساګ- سُورګلے-

سورل:(سُو-رل)اسم- واحد- مذکر- هغه آس چې رنګ ئې سور وي-

سورلاسے:(سُور-لا-سے)اسم صفت- آزاري- جنجالي- فسادي- وينې تويونکے- قاتل- هغه څوک چې دَ مقتول په وينو ئې لاس سرهٔ وي-

سورلان:(سُور-لان)اسم- واحد- مذکر- دَ يو ښهٔ دات سپے-

سورلکي:(سُور-لَ-کي)اسم- واحد جمع- مؤنث- يو قسم مرغئ چې سره لکۍ لري-

سورلمنه:(سُور-لَ-مَ-نه)اسم- واحد- مؤنث- هغه زنانه چې دَ بچي دَ زيږون په وخت وفات شي- سورلمنې- جمع سورلمنې-

سورلمنې:(سور-لَ-مَ-نې)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سورلمنه- (افغانستان)-

سورلمے:(سور-لَ-مے)اسم- واحد- مذکر- دَ تولي يو قسم-

سورلن:(سور-لن)اسم صفت- سورنے- سايه- سُورين- سورن- سپړن- په سوري-

سورلنډ:(سور-لنډ)اسم- واحد- مذکر- (۱)ګيدړ- شغال- (۲)شا- پُشت- کونه- پوبئ-

سورلنډے:(سُور-لن-ډے)اسم- واحد- مذکر- شغال- ګيدړ-

سورلني:(سور-لَ-مَ-ني)صفت- جمع- (۱)سوارهٔ- سپارهٔ- (۲)دَ سورلي- (۲- اسم)تادي- جلتي- جله خله-

سورلي:(سُور-لي)اسم- واحد- مذکر- (۱)هر هغه څيز چې سورلي پرې کېدے شي- (۲)سوربدنه-

سورلے:(سُور-لے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم سپينه نسواري رنګه مرغئ-

سرماڅي:(سر-ما-څي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)سرخي- تازګي- سوروالے- (۲- صفت)سوررنګه- سور رنګ ته نزدې- داسې رنګ چې سُرخي ته مائل وي-

سورمخے:(سُور-مَ-خے)اسم صفت- هغه څوک چې دَ مخ رنګ ئې سور وي-

زبر (خ-بڼه-ره)، زورکے (شل)، پېښ (تو-کا-سره)، زير (ک-ساب)، جزم (شکون)، ه (و-ړه)، ۀ (پو-سبې-ده)

سورمل:(سُور-مَل)اسم- واحد- مذکر- په بیدیا کښې شین کېدونکے یو قسم واښه-

سورن:(سو-رن)اسم صفت- په سوری- د سوری لاندې (۲)د سوری بیمار-

سورن:(سُو-رن)اسم- وګورئ سورل-

سورنا:(سور-نا)اسم- واحد- مؤنث- د ترخ باجه- سُرنا- سُرنے-

سورناچي:(سور-نا-چي)اسم صفت- سورنا غږونکے- د ترخ باجه غږونکے-

سورناک:(سور-ناک)اسم صفت- خوندور- سرناک- پرلے- بنانسته- هغه څیز چې سُر پکښې وی-

سورنجان:(سو-رن-جان)اسم- واحد- مذکر- د یوې دوایی نوم-

سورنګ:(سُو-رنګ)اسم- واحد- مذکر- سُرنګ- (۱)تیلی اس- (۲)زخمي- خوږ- خوږمن- (۳)په غر یا زمکه کښې دننه لار-

سوروالے:(سُور-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- (۱)سورتوب- سُرخي- سُور رنګ لرنه- (۲)غصه- توروالے-

سوروبره:(سُور-وب-ره)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- سوربخن- سورماتې- سوررنګے- سُرخي ته نژدې-

سوروزمه:(سُور-وز-مه)اسم صفت- وګورئ سوربخن/سوروبره-

سورول:(سُو-ر-وَل)مصدر- سهرول- د سورلۍ په څیز کښېنول- په اس، ملتي یا بله سورلۍ کښېنول-

سوروِن:(سُو-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ سورول-

سورونکے:(سُو-ر-وون-کے)اسم فاعل- جمع سورونکي- مؤنث سورونکې- وګورئ سورول-

سورونګ:(سو-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سورول-

سورونه:(سُو-ر-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ سورول-

سوره:(سُو-ره)اسم- واحد- مؤنث- هغه جینۍ چې د دوؤ دشمنو پلو منځ کښې د روغې راوستو په غرض د ظالمې پلې له خوا مظلومې پلې ته ورکړے شي-

سوره:(سُو-ره)اسم- واحد- مؤنث- چغه- نعره- نارے- کریکه- کړیکه-

سوره:(سُو-ره)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سورت-

سوری:(سُو-ری)اسم- لوې جوال- شل-

سوریانګه:(سُور-یانګ-که)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم وړه زیړرنګې مرغۍ- زیږکه-

سوریته:(سو-ری-ته/سُور-یه-ته)اسم- واحد- مؤنث- هغه وینځه چې د خپل مالک نه ئې اولاد وشي-

سورې:(سو-رې)اسم- جمع- مؤنث- چغې- نارې- کریکې- کړیکې- د سُوره جمع-

سورېدل:(سُو-رې-دل)مصدر- په اس، ملتي یا بله سورلۍ کښېناستل-

سورېدن:(سُو-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ سورېدل-

سورېدنګ:(سُو-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سورېدل-

سورېدنه:(سُو-رې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ سورېدل-

سورېدونکے:(سُو-رې-دون-کے)اسم فاعل- جمع سورېدونکي- مؤنث سورېدونکې- وګورئ سورېدل-

سورېده:(سو-رې-ده)حاصل مصدر- وګورئ سورېدل-

سوری:(سو-ری)اسم- واحد/جمع- مؤنث- د سُوری مؤنث- وګورئ سورے-

سوری:(سُو-ری/سڅو-ځری)اسم- واحد/جمع- مؤنث- د اُس د زین عرق ګیر- نوغل- توغم- شاکوړے- (افغانستان)-

سورے:(سو-رے)اسم- واحد- مذکر- (۱)سوړه- غار- سوروے- (۲)مجازاً- کوس- مفعول- مؤنث سوری-

سورے:(سو-رے)اسم- واحد- مذکر- (۱)سیورے- سایه- د مادې هغه عکس چې د نمر له کبله په زمکه لیدے شي- (۲)د ماشومانو یو قسم بیماری-

سورے سورے:(سُو-رے-سُو-رے)اسم صفت- سُورې سُوری- هغه څیز چې پکښې ډېر سوری وی- لکه غلبیل- (۲)د توپکو په ګولیو لګېدلے-

سوړ:(سوړ)اسم صفت- (۱)یخ- سړه- د تود یا ګرم ضد- (۲)مجازاً لټ او ناراسته سړے-

سوړ:(سو-ړ)اسم صفت- ناراسته او وېرېدونکے سړے-

سوړ باد:(سوړ-باد)اسم- واحد- مذکر- (۱)یخ باد- (۲)غم او مصیبت-

سوړ بوړ:(سوړ-بوړ)اسم صفت- (۱)پرېشانه- غمګین- (۲)مچو خوړلے-

سوړ بوی:(سوړ-بوی)اسم- واحد- مذکر- بدبوی- سخا بوی- ګنده ویم-

سوړ پوړ:(سوړ-پوړ)اسم صفت- (۱)ډېر زیات یخ- بېخي یخ- (۲)بې مینې- بې مهره- بې محبته-

سوړ تود:(سوړ-تود)اسم صفت- تود سوړ- یخ ګرم- سړه توده-

سوړتیا:(سوړ-تیا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سوړوالے-

سوړسک:(سوړ-سک)اسم- واحد- مذکر- وګورئ سوکړل-

سوړ سمخ:(سوړ-س-مخ)اسم صفت- بېخي سوړ- بالکل سوړ- ډېر زیات سوړ- سوړنکوړ- سوړ پوړ-

سوړفکره:(سوړ-فک-ره)اسم صفت- سوړدمے- ناراسته- لټ- سست- غلے-

سوړمیرے:(سوړ-می-رے)اسم صفت- کټه میړ- کټه میرے- سنګدل- وحشي-

سوړن:(سو-ړن)اسم صفت- دروغژن- دروغجن- دروغ ویونکے- پرزن- لاپو-

سوړوالے:(سوړ-وا-لے)اسم صفت- سوړتیا- سړښت- سوړتوب- د سړېدو یا یخېدو حالت-

سوړه:(سو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)غار- سوړے- (۲)مقعد- د لویو بولو ځای-

سوړی:(سو-ړی)اسم- بوټ سوری- بوټ سوړی-

سوریز:(سُو-ریز)اسم صفت- اواره ګرد- لوفر- فضول ګرځېدونکے-

سوړې:(سو-ړې)اسم- جمع- مؤنث- (۱)دروغ وینا- لافې- پوزې- (۲)د سوړه جمع-

سوړے:(سُو-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)سُورے- سوړه- (۲)اروده لګی لرونکې

يوه خړ رنګې مرغۍ-

سوږے سمبوږے(سو-ږے-سم-بو-ږے)اسم مرکب- وګورئ سمبوږے-

سور(سور)اسم- واحد- مذکر- (۱)سوربدنه- سوے- (۲)درد- تکليف- غم- پرېشاني- (۳)د غم يا اثر سندره-

سوزاک(سو-زاک)اسم- واحد- مذکر- يو قسم ناروغي چې د ورو بولو اندام پکښې زخمي کېږي او بيا د هغې زخم نه کېله سوزي-

سوزان(سو-زان)اسم صفت- سوزونکے- سوزناک-

سوزبر(سوز-بر)اسم- جمع- مذکر- سبزبرګ- شنه پاڼه- شنه پڅه-

سوزبخن(سوز-بېـ-خن)اسم- وګورئ حرج-

سوزش(سو-زش)اسم- واحد- مذکر- سوے- سوځت- سوز- سوربدنه- تاؤ- درد- تکليف- (م- فارسي)-

سوزه(سو-زه)اسم- واحد- مذکر- سوزاک- يو مرض چې نښې متيازې پکښې سوزي-

سوزکے(سو-ز-کے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم شين بوټے چې د بدن په کُه اندام پورې ومښلے شي نو سوزوي ئې-

سوزل(سو-زل)مصدر- سوزول- سول-

سوزمه(سوز-مه)اسم- واحد- مؤنث- سېيرمه- سپېمه- جمع سوزمې-

سوزن(سو-زن)اسم- واحد- مذکر- (۱)ستن- (۲)د تېرې څوکې څيز لکه نوره وغيره-

سوزناک(سوز-ناک)اسم صفت- افسوس ناک- دردناک- سوځونکے- سوزان-

سوزنده(سو-زن-ده)اسم صفت- سوزونکے- سېزونکے- آتشين- سوزان-

سوزنی(سوز-ني)اسم- واحد- مؤنث- يو کټ يا بستره د عورتلو ګنډلو-

سوزني(سو-ز-ني)اسم صفت- سوسن رنګ لرونکے څيز-

سوزول(سو-ز-ول)مصدر متعدي- په اور کښې لمبه کول- بلول- اور لګول- اور اچول- سېځل-

سوزون(سو-ز-ون)حاصل مصدر- وګورئ سوزول-

سوزونکے(سو-ز-ون-کے)اسم فاعل- جمع سوزونکي- مؤنث سوزونکې- وګورئ سوزول-

سوزونګ(سو-ز-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سوزول-

سوزونه(سو-ز-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ سوزول-

سوزه(سو-زه)اسم- واحد- مؤنث- د قسمي پيوند- د جامو د ښيدلې ځاې پيوند-

سوزېدل(سو-زې-دل)مصدر لازم- په اور لمبه کېدل- بلېدل- اور لګېدل- اور اچولے کېدل-

سوزېدلے(سو-زې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع سوزېدلي- مؤنث سوزېدلې- وګورئ سوزېدل-

سوزېدلے(سو-زي-دلے)اسم صفت- واحد- مذکر- عاشق-

سوزېدن(سو-زي-دن)حاصل مصدر- وګورئ سوزېدل-

سوزېدنګ(سو-زي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سوزېدل-

سوزېدنه(سو-زي-دنه)حاصل مصدر- وګورئ سوزېدل-

سوزېدونکے(سو-زي-دون-کے)اسم فاعل- جمع سوزېدونکي- مؤنث سوزېدونکې- وګورئ سوزېدل-

سوزېده(سو-زي-دة)حاصل مصدر- وګورئ سوزېدل-

سوسر(سو-سر)اسم- واحد- مذکر- (۱)د اُبو سُور- دريايي خنزير- (۲)صفت)وسترګے او رذيل سړے-

سوسکاره(سوس-کا-رنه)اسم- وګورئ لنګول- ځېړنه- تلاش- سونګ وهنه-

سوسکېدل(سوس-کې-دل)مصدر لازم- (۱)رپېدېدل- رېږدل- رچېدل- لړزېدل- (۲)غلې غلې ژړا کول-

سوسکېدنګ(سوس-کې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سوسکېدل-

سوسکېدنه(سوس-کې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ سوسکېدل-

سوسکېدونکے(سوس-کې-دون-کے)اسم فاعل- جمع سوسکېدونکي- مؤنث سوسکېدونکې- وګورئ سوسکېدل-

سوسکېدة(سوس-کې-دة)حاصل مصدر- وګورئ سوسکېدل-

سوسمبر(سو-سم-بر)اسم- واحد- مذکر- وبلنې- وبنلے- صحرائے وبلنې-

سوسن(سو-سن)اسم صفت- (۱)اورد- لوړ قدے- په ونه اُوچت- (۲)اسم)ارغيک-

سوسني(سو-سه-ني)صفت- د سوسن رنګ په شان- تت تور رنګ- بانجني رنګ-

سوسو(سو-سو)اسم صوت- سه سه- د يخني په وجه له خلې وتونکے اواز-

سوسی(سو-سی)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم ريښمينه کپړه- (افغانستان)-

سوسے(سو-سے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم خړ رنګے ازغن بوټے چې د سوځولو د پاره پکارولے شي-

سوښته(سوښ-ته)اسم- وښکے-

سوښتے(سوښ-تے)اسم- واحد- مذکر- (۱)وښکے- ورښکے- د خلې کُنج- (۲)د جولا ماکو- ماکو-

سوغ(سوغ)اسم صوت- (۱)د پوزې سُون کولو آواز- سغ- (۲)لږ او کم څيز- چوبدی-

سوغات(سو-غات)اسم- واحد- مذکر- تحفه- ډالۍ- پېرزوئنه- زړه غښتنه- خوښي-

سوغالے(سو-غا-لے)اسم- واحد- مذکر- د سونې غار- د سونې کور- د سوی کور-

سوغخے(سوغ-خے)اسم- واحد- مذکر- هغه ټوکری چې سر پرې بندولے شي- سرپوښه ټوکرۍ-

سوغر(سو-غر)اسم صفت- لغړ- بربنډ- لغړ سوغړ- داسې بربنډ چې په وجود ويجه پاتې نه وي-

سوغل(سو-غل)مصدر- (۱)د پوزې نه د سوغ سوغ اواز وتل- سوبېدل-

رمز: (ج-مفـ-ره)، ووړکے(شل)، پېښ(تو-کا-ره)، زبر(کـتاب)، جزم(شکون)، ة(ز-ړه)، ة(ډو-سې-دة)

www.pukhto.net

(۲)سغېدل- (۳)وګورئ سوغول-

سوغن:(سو-غن)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه کو یا پسه چې د یخنۍ وهلو له کبله د پوزې نه د سوغ سوغ آواز وباسي- (۲)حاصل مصدر- وګورئ سوغـل-

سوغنے:(سوغ-نے)اسم- واحد- مذکر- هغه آس چې د ډېر کار کولو په وجه خوار وی خو وجود ئې کلک او مضبوط وی-

سوغول:(سو-غ-ول)مصدر- (۱)سونبول- وګورئ سوغـل- (۲)په پوزه څه څیز راکښل- (۳)سرخول- (۴)په زور سره څه څیز غړخول-

سوغولے:(سو-غ-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع سوغولي- مؤنث سوغولې- وګورئ سوغول-

سوغون:(سو-غ-ون)حاصل مصدر- وګورئ سوغول-

سوغونکے:(سو-غ-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع سوغونکي- مؤنث سوغونکې- وګورئ سوغول-

سوغونګ:(سو-غ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ سوغول-

سوغونه:(سو-غ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ سوغول-

سوغوۀ:(سو-غ-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ سوغول-

سوغېدل:(سو-غې-دل)مصدر لازم- (۱)سونبېدل- (۲)په پوزه څه څیز راکښلے کېدل- (۳)سرخېدل- (۴)په زور سره څه څیز غړخېدل-

سوغېدلے:(سو-غې-د-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع سوغېدلي- مؤنث سوغېدلې- وګورئ سوغېدل-

سوغېدن:(سو-غې-دن)حاصل مصدر- وګورئ سوغېدل-

سوغېدنګ:(سو-غې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ سوغېدل-

سوغېدنه:(سو-غې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ سوغېدل-

سوغېدونکے:(سو-غې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع سوغېدونکي- مؤنث سوغېدونکې- وګورئ سوغېدل-

سوغېدۀ:(سو-غې-دۀ)حاصل مصدر- وګورئ سوغېدل-

سوفار:(سو-فار)اسم- واحد- مذکر- (۱)د ستن سورے- سوم- سپم- (۲)د غشي د هغه سر سورے کوم چې په کمان کښې کېښودے شي- کېښکے- (م- فارسي)-

سوق:(سوق)اسم- واحد- مذکر- (۱)ښېرل- (۲)بېلول- (۳)بوول- بوتلل- بيول- بوتلل- (۴)حديث ونيل او بيانول- (افغانستان)- (م- فارسي)-

سوقلے:(سو-ق-لے)اسم صفت- تنګه پاجامه چې په وجود پورې نښتې وي-

سوک:(سوک)اسم- واحد- مذکر- موټے- د لاس د پنجې د راغونډېدو حالت- موکه-

سوک:(سوک)اسم- واحد- مذکر- يخ باد- يخ شمال- (افغانستان)-

سوکا:(سو-کا)متعلق فعل صفت- په آرام- په تسلي- په جمع زړه- په اطمينان-

سوکاله:(سو-کا-له)اسم صفت- (۱)خوشحاله- هغه څوک چې خوشحال او مصئن وي- (۲)ناراسته- لېب-

سوکالي:(سو-کا-لي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ سکالي- ارامي- خوښي-

سوک ګېږه:(سوک-ګې-ږه)اسم- معمولي جګړه-

سوکړ:(سو-کړ)اسم- واحد- مذکر- شوم- کنجوس- بخيل-

سوکړ:(سو-کړ)اسم صفت- (۱)هغه سړے چې ږيره ئې بوچې وي- (۲)د ښځې او سړي زنې خاوند-

سوکړ:(سو-کړ)اسم- واحد- مذکر- پیاځه د جوارو بوټي- جوارې-

سوکړه:(سو-کړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وچ کالے- خشک کالي- (۲)هغه زمکه چې اوبه ئې نۀ وي-

سوککه:(سو-ک-که)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم کياه-

سوکلے:(سو-ک-لے/سوک-لے)اسم صفت- لټ او ناراسته سړے- آرام طلبه سړے-

سوک سوک:(سوک-سوک)اسم متعلق فعل- سوت بوت- غنډ منډ-

سوکول:(سو-ک-ول)مصدر متعدي- وګورئ زسکول-

سوکه:(سو-که)اسم- واحد- مؤنث- وروه- په قرار- په قلار- په دمه- په مزه- په ساه-

سوکه:(سو-که) اسم- واحد- مؤنث- سوې لړکے- سوے-

سوکې:(سو-کې)اسم- واحد- مؤنث- تکوبه- په عذابونه- تکليف ورکونه-

سوکي:(سو-کي)اسم- واحد جمع- مؤنث- لوانګه- هغه دانه چې د بلوغ په زمانه د نوي خوان په مخ راخېژي-

سوکے:(سو-کے)اسم- واحد- مذکر- د ېبيو يو قسم لوبه-

سوګ:(سوګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)پېرخه- شبنم- (۲)غم- پرېشاني- د چا په غم عمزاري کونه- وير- ماتم-

سوګا:(سو-ګا)اسم- ساتنه- حفاظت کونه- څوکي کونه-

سوګټ:(سو-ګټ)اسم صفت- بخيل- شوم- کنجوس-

سوګړ:(سو-ګړ)اسم صفت- وګورئ سوګټ-

شپنغوده(شپن-غو-ده)اسم- واحد- مؤنث- د شپنغود مؤنث- وګورئ شپنغود-

شپنغېدی(شپن-غي-دی)اسم- واحد- مؤنث- شپنغدی- شپنغوده- يو قسم مرغۍ- وګورئ شپانغي-

شپنکے(شپن-کے)اسم- واحد- مذکر- شپونکے- ګډې بيزې څرونکے- جمع شپنکي شپنکيان-

شپنکيری(شپن-کي-ري)اسم- شپون توب- د ګډيو بيزو څرونه-

شپنکۍ(شپن-کۍ)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ شپنغود-

شپنکے(شپن-کے)اسم- زلمے شپون-

شپنه(شپـ-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د شپون مؤنث- (۲)يو قسم واښه چې پاڼې ئې نرۍ وي او خوند ئې حوږ وي-

شپنی(شپه-نی)اسم- شپونتوب- چوپاني-

www.pukhto.net

شہنے:(شهـ-نے)اسم صفت- سکانے- (عامیانه)-

شہوړی:(شهو-ړی)اسم- مؤنث- (۱)وګوری شهپې- (۲)پټوکه- اوخکی-

شهول:(شهول)اسم- واحد- مذکر- (۱)حلقه- هاله- (۲)وېره- بار- احاطه- د ګېو بزو د ساتنې له ځایٔ تاژشوے د غنو ګېر-

شهولغالے:(شهول-غا-لے)اسم- واحد- مذکر- هغه ځایٔ چې د شپې پکښې ګېږي بزې ساتلې شي-

شهولکے:(شهول-کے)اسم تصغیر- وړوکے شهول-

شهون:(شهون)اسم- واحد- مذکر- د ګېو بزو ساتونکے- د ګېو بزو څرونکے- جمع شهانهٔ-

شهوستوب:(شهون-توب)اسم- واحد- مذکر- چوپانی- د شهون کسب- شپونتیا-

شهونتیا:(شهون-تیا)اسم- وګوری شپونتوب-

شهونکے:(شهون-کے)اسم تصغیر- وړوکے شهون- د ګېو بزو څرونکے-

شپویه:(شهو-یه)اسم- شفع- شفعه- حق- شفع- د څهٔ څیز پهٔ قیمت د اخستلو مقدم حق- (م- عربی)-

شهوناکه:(شهو-نا-که)اسم- واحد- مؤنث- د جامې شړېدلے ځایٔ-

شپه:(شپه)اسم- واحد- مؤنث- د نمر پرېوتو نه تر سحره پورې وخت-

شپه:(شپه)اسم- شپه- شپون- (افغانستان)-

شپه تېری:(شپه-تې-ری)اسم- شپه تېرونه- شپه کونه-

شپه تېرے:(شپه-تې-رے)اسم- هغه سړے چې بې کاره شپه تېره وی-

شپه پوندی:(شپه-پون-دی)اسم- د شمکوری مرض-

شپه پوندے:(شپه-پون-دے)اسم- واحد- مذکر- شبکور- شمکور- هغه څوک چې د شپې ې نظر نهٔ لګی-

شپه پونے:(شپه-پو-نے)اسم- واحد- مذکر- توله شپه پهٔ ویښه تېرونکے-

شپیانکه:(شپه-یانګ-که)اسم- واحد- مؤنث- د خړ رنګ دانې لرونکے یو بوټے چې د معدې د درد د پاره پکاروَلے شي- جمع شپیانګې-

شپیانه:(شپه-یا-نه)اسم- مؤنث- (۱)شرم- سپکه- ندامت- خجالت- (۲)تېرغمی- زلندتوب- تاتار- تاراک- (۳)ظلم وستم- تطاول- (افغانستان)-

شپېتم:(شپې-تم)اسم عدد- د شپېتو د هندسي صفتي شکل-

شپېتمه:(شپې-تمه)اسم عدد- د شپېتو د هندسي د صفتي شکل مؤنث-

شپېته:(شپې-ته)اسم- واحد- مؤنث- سونکے- د لرګی معمولی ټوکره چې په چوپ کښې د ټیکولو د پاره ورکولے شي- شپېتی- شپېشتے- شپېتے- جمع شپېتې-

شپېته:(شپې-ته)اسم عدد- دري شلې- پنځوس او لس- (۶۰)-

شپېتی:(شپې-تی)اسم- واحد- مؤنث- وګوری شپېته-

شپېتے:(شپې-تے)اسم- واحد- مذکر- وګوری شپېشترے- جمع شپېتی-

شپېخر:(شپې-خر)اسم- د شپې آخره حصه-

شپېرن:(شپې-رن)اسم صفت- بوناک- بدبو کونکے-

شپېرنه:(شپې-رنه)اسم صفت- مؤنث- چټله او بېکاره- خیرنه-

شپېره:(شپې-ره)اسم- پېره- جمع شپېرې-

شپېشترے:(شپېش-تر-ے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم ساګ- پېشترے- شپېتے- شپېشتے- شپېشکه- اخنک- شپېشتلکه- جمع شپېشترې- د نباتاتی نوم د پاره وګوری اخنک-

شپېشکه:(شپېش-ته-که)اسم- واحد- مؤنث- وګوری شپېشترے- جمع شپېشکې-

شپېشتلکه:(شپېش-تله-که)اسم- واحد- مؤنث- وګوری شپېشترے-

شپېشتے:(شپېش-تے)اسم- واحد- مذکر- وګوری شپېشترے- جمع شپېشتی-

شپېشتے:(شپېش-تے)اسم- واحد- مذکر- وګوری شپېته-

شپلغه:(شپې-لغه)اسم- واحد- مؤنث- ګرمن- شولغه- جمع شپلغې-

شپلغے:(شپېل-غے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم صحرائی مرغۍ- جمع شپلغی-

شپلغے:(شپې-لغ-غے)اسم- واحد- مذکر- شمکور- شبکور- شبرے- جمع شپلغی- مؤنث شپلغې-

شپلک:(شپې-لک)اسم- واحد- مذکر- له خلې وتونکے اوار- شپېلے-

شپلکے:(شپېل-کے)اسم تصغیر- د شپېلی اسم تصغیر- ترے وړوکے شپېلے- جمع شپلکی-

شپېلل:(شپې-لل)مصدر- د خوراک څهٔ څیز پهٔ خلهٔ راکښل- له مېوکی نلے پهٔ خله راکښل- شپېلول- د خوراک شے د ساه پهٔ زور خلې ته راکښل-

شپېللے:(شپې-لـ-لے)اسم مفعول- جمع شپېللی- مؤنث شپېللې- وګوری شپېلل-

شپلندر:(شپې-لن-در)اسم صفت- شمکور-

شپلندو:(شپې-لن-دو)اسم صفت- شپېلے وهونکے-

شپلنه:(شپې-لـ-نه)حاصل مصدر- وګوری شپېلل-

شپېلول:(شپې-لـ-ول)مصدر- وګوری شپېلل-

شپېلولے:(شپې-لـ-و-لے)اسم مفعول- جمع شپېلونکی وګوری شپېلول-

شپېلونکے:(شپې-لون-کے)اسم فاعل- جمع شپېلونکی- مؤنث شپېلونکې- وګوری شپېلول-

شپېلونه:(شپې-لـ-و-نه)حاصل مصدر- وګوری شپېلول-

شپېلیمار:(شپې-لی-مار)اسم صفت- شپېلے وهونکے- شپېلی غږونکے- جمع شپېلیماران-

شپېلی:(شپې-لی)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)د تماچې یا ټوپک نلی- (۲)د موسیقۍ آله چې پهٔ خلهٔ غږولے شي-

شپېلے:(شپې-لے)اسم- واحد- مذکر- له خلې وتلے د شپېلی د اواز پهٔ رنګ اوار- جمع شپېلی-

شپېنے:(شپې-نے)اسم صفت- بېکاے- د شپې- (عامیانه)-

ی: (ځی-رل)، ي: (مي-ره-ول)، ی: (پیا-لی)، ے: (تن-دے) تفصیل د پاره وګوری تشریحات صفحه ۱

www pukhto net

شت:(شت)اسم- شتکه- تېزرفتار- چالاک- تېزه منډه- ادی سره زمل مصدر زغل-

ښت:(ښت)اسم- د هغه یو قسم- بچه- ایک-

شتا:(ش-تا)اسم صفت- بې حیا- چالاک- مکار- شریر-

شتاب:(ش-تاب)اسم صفت- (۱)تلوار- جلتي- سرعت- بیړه- (۲)بې قراري (م- فارسي)-

شتامه:(ش-تامه)اسم- واحد- مؤنث- وګوری شتاحه-

شتاتوب:(ش-تاتوب)اسم- بې حیائي- شرارت-

شتامبې:(شتام-بې)اسم- واحد جمع- مؤنث- د کالي بغوي- برغې-

شتاحه:(ش-تا-حه)اسم صفت- واحد- مؤنث- کلسیره ښځه- شریره ښځه- شتایه- شاوه- جمع شتاحې-

شتاشه:(ش-تاشه)اسم صفت- مخره سړی- شریر-

شتاوالی:(ش-تا-والی)اسم- شرارت- بې حیائي- شتاتوب-

شتاوه:(ش-تا-وه)اسم صفت- وګوری شتاحه-

شتایه:(ش-تایه)اسم صفت- وګوری شتاحه-

شتانی:(ش-تا-نی)اسم- بې حیائي- شرارت-

شتر:(ش-تر)اسم- واحد- مذکر- اوښ- ورډې پښې لرونکے لوی ښکر- (م- فارسي)-

شتراړ:(شتر-اړ)اسم صوت- د ابو د شړاری اواز-

شترپوه:(ش-تر-پو-ه)اسم- واحد- مؤنث- پېره پوی- پېر علم- (افغانستان)-

شترک:(شتر-ک)اسم- واحد- مذکر- د اُبو څپه- د فواري نه وتونکې څپه- شترکه-

شترکه:(شتر-که)اسم- واحد- مؤنث- وګوری شترک-

شترمرغ:(ش-تر-مرغ)اسم- واحد- مذکر- یو قسم مارغهٔ چې افریقه او نورو ریګستانی ملکونو کښې پیدا کیږی- (م- فارسي)-

شتری:(شتر-ری)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د اوښانو د وړی نه جوړه شوې کېږه- (۲)د اوښانو د وړی په شان رنګ لرونکې کېږه-

شتک شتک:(شتک-شتک)اسم صوت- د نر ګلاری په مله شاروی د خېژولو د پاره ږرکونکے آواز- تپ تپ-

شتکه:(شتک-که)اسم- واحد- مؤنث- چټه- څپکه- پتک- د ماشومانو د لوبو د لرګی کیټی- پېټی- جمع شتکې-

شتکه:(شت-که)اسم- واحد- مؤنث- وګوری شت-

شتوالی:(شت-والی)اسم- خفګدنه- شت وهنه- منډه وهنه-

شتهٔ:(شتهٔ)اسم- (۱)دولت- جائداد- مال- (۲)موجودګی-

شتهٔ کرنه:(شتهٔ-کر-نه)اسم- شته کونه- ایجاد- (افغانستان)-

شتهٔ من:(شتهٔ-من)اسم صفت- دولتمند- مالدار- شتهٔ لرونکے-

شتهٔ منتوب:(شتهٔ-من-توب)اسم- دولتمندی- مالداری- شتهٔ منتیا- شتهٔ والے-

شتهٔ منتیا:(شتهٔ-من-تیا)اسم- وګوری شتهٔ منتوب-

شتهٔ منی:(شتهٔ-من-نی)اسم- دولت مندی- مالداری-

شتهٔ والے:(شتهٔ-والے)اسم- وګوری شتهٔ منتوب-

شتی اپره:(شتی-اپ-ره)اسم- واحد- مؤنث- ګولی پنډاه- د ماشومانو یوه لوبه چې په شتی او اپره کیږی-

شتې:(شتې)اسم- د اُبو داري- د اُبو کاککی-

شتی:(شه-تی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د جوارو توکه- (۲)د تالاؤ د اُبو د پاسه د شین رنګ خګ-

شتی:(شه-تی)اسم- واحد- مؤنث- د ماشومانو په لوبه کښې استعمالېدونکے د لرګی وړه توکړه- ګلی- ګولی- د شتی اپره یا ګلی ډنډی د لوبې ګلی-

شتی:(شه-تی)اسم- واحد- مؤنث- شیتی- الوتونکے غشے- د اتش بازی یوه لمسکه-

شټامپ:(شټامپ)اسم- واحد- مذکر- مُهر- سټمپ- د قبالې کاغذ- پوخ کاغذ- (م- انګریزی)-

شټرکه:(شټ-ر-که)اسم- واحد- مؤنث- شنه- د اُبو دارے-

شټل:(ش-ټل)اسم صفت- ناراسته- بې پېه- بې شعوره-

شټلکے:(شه-ټل-کے)اسم تصغیر- د شټل اسم تصغیر- وګوری شټل-

شټلي:(شه-ټه-لي)اسم- د لاسو پښو زمنه- پرکونه وهنه-

شټېدل:(شه-ټې-دل)مصدر- پرټېدل- خرکېدل- پرتېدل-

شټېدن:(شه-ټې-دن)حاصل مصدر- وګوری شټېدل-

شټېدنګ:(شه-ټې-دنګ)حاصل مصدر- وګوری شټېدل-

شټېدنه:(شه-ټې-د-نه)حاصل مصدر- وګوری شټېدل-

شټېدونکے:(شه-ټې-دون-کے)اسم فاعل- جمع شټېدونکی- مؤنث شټېدونکې- وګوری شټېدل-

شجاع:(ش-جاع)اسم صفت- زړه ور- توروزن- دلاور- بهادر- شجاعت مند- (م- عربي)-

شجاعت:(ش-جا-عت)اسم- زړه ورتیا- توروزنی- بهادری- (م- عربي)-

شجر:(شه-جر)اسم- واحد- مذکر- ونه- (م- عربي)-

شجره:(ش-جه-ره)اسم- واحد- مؤنث- اصل معنیٰ ونه- نسب نامه- د یو خاندان د نومونو سلسله وار فهرست- جمع شجرې- (م- عربي)-

شخرلے:(شه-خر-لے)اسم- واحد- مذکر- جمع شخرلی- وګوری خورلے-

شخولے:(شه-خو-لے)اسم- واحد- مذکر- جمع شخولی- وګوری خورلے-

شخرلے:(شه-خر-لے)اسم- واحد- مذکر- جمع شخرلی- وګوری خورلے-

شکرلے:(شه-خر-لے)اسم- واحد- مذکر- جمع شکرلی- وګوری خورلے-

شخورلے:(ش-خور-لے)اسم- واحد- مذکر- جمع شخورلی- وګوری خورلے-

شحم:(ش-حم)اسم- واحد- مذکر- وازده- وازګه- (م- عربي)-

شخ:(شخ)اسم صفت- د څه څیز یا د تیزې هوا آواز- شخار-

شخار:(ش-خار)اسم صوت- وګوری شخ-

شحار:(شه-حار)اسم- واحد- مذکر- (۱)دُ مالش دُ پاره پکارېدونکی دارو- (۲)بت- بتې- استحار- اشقار-

شخ پخ:(شخ-پخ)اسم صوت- دُ هوا يا د تبي پهٔ وخت دُ غورو آواز-

شخت:(شخت)اسم- سختي- د تنګدستي رخت-

شختولے:(شخ-تو-لے)اسم- دُ وربښمو يو جالي چې دُ وادهٔ پهٔ وخت ناوې ته غوړولے شي- جمع شختولي-

شخړه:(شخه-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)جنجال- نښته- فساد- (۲)کټه کوږه- (۳)عبث- جمع شخړې-

شخړې شخړې:(شخه-ړې- شخه-ړې)اسم- کټه کوږه-

شخشول:(شخ-شول)اسم- واحد- مذکر- خولنه- پېکړه-

شخشولې:(شخ-شو-لې)اسم- جمع- مؤنث- (۱)جُرابې- دُ جرابو پهٔ ځاې استعمالېدونکی دوه ټوکرې- (۲)پاتله- پټله-

شخص:(شخص)اسم- واحد- مذکر- کس- نفر- فرد- (م- عربي)-

شخصي:(شخ-صي)اسم صفت- (۱)دُ يو فرد لاندې نظام حکومت- (۲)ذاتي-

شخصيت:(شخ-صي-يت)اسم- (۱)سرېتوب- (۲)وقار- عزت-

شخلے:(شه-خه-لے)اسم- واحد- مؤنث- (۱)يو قسم وابنهٔ- (۲)هغه زمکه کښې ښخ هغه لرګے چې دُ پاسه پرې بل لرګے ولاړ وي-

شخنتي:(ش-خن-تي)اسم- واحد- مؤنث- شمشتي- شکرتانے- کلمه کرپ- کېښوه- کشب- کشپ-

شخواټ:(شخ-واټ)اسم- واحد- مذکر- دُ ماشومانو يو قسم لوبه-

شخوده:(شخو-ده)اسم صفت- نوکارې شوے- پهٔ نوکارو شوکېدلے-

شخور:(شخور)اسم- (۱)کتکانې- هغه شګه چې خاوره ورسره ګلکه شوې وي- (۲)سنګريزه-

شخول:(شخول)اسم- (۱)چغې- آوازونه- (۲)دُ مرغانو چغار- (۳)بڅول- غم- خواشيني- (۵)پهٔ نوکارو او مښوکو شوکول-

شخول:(شخول)اسم- دلګيري- اندوه- ملال- خفګان- غم-

شخولے:(شخو-لے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دوسته- دُ غشو اېښودلو تېلي- (۲)دُ مسافرو ګوړے- (۳)دُ جولاوو دُ بوټي پنډو- (۴)تيرکش- تيردان- جمع شخولي-

شخوند:(شخوند)اسم- واحد- مذکر- دُ خوراک ځيز پهٔ غاښونو ميده کونه- وګورئ: خدوکے-

شخنه:(شخه-نه)اسم- واحد- مؤنث- دُ اوبو بند او غټه- (افغانستان)-

شد:(شد)علامت- هغه علامت چې دُ مغې پهٔ وجه يو حرف دوه ځله ادا کيږي لکه ترنډ- (شد-م- عربي)-

شدان:(ش-دان)اسم- واحد- مذکر- موري- ناوه- دُ اُبو لاره-

شداوه:(ش-دا-وه)اسم- واحد- مؤنث- ابرې- شړاوه- چوپيري- چغربازه- شلاوه- جوپړ-

شدبد:(شد-بد)اسم- واحد- مؤنث- عقل- هوش- فکر- پوهه- (م- فارسي)-

شدت:(شد-دت)اسم- سختي- تيزي- تندي- (م- فارسي)-

شدمد:(شد-مد)متعلق فعل- روړ شور- دوم دام- شان وشوکت-

شدياره:(شد-يا-ره)اسم- واحد- مؤنث- هغه زمکه چې دُ کرلو دُ پاره تياره شوې وي- شدياره- سادين شوې- شاړه- جمع شدياري-

شدياره:(شد-يا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: شدياره- جمع شدياړې-

شديد:(ش-ديد)اسم صفت- سخت- مضبوط- مشکل- (م- عربي)-

شل:(ش-ل)اسم صفت- واحد جمع-مذکر- (۱)ناراسته- کاهل- (۲)بې پېسه- ماړامه- (۳)ناوينځلے- خرخړتوکے- (۴)بې دانو ورے- (۵)شاړ- شاړ شاړ- د نوم لو مهين ځند- ناتراشلے- - ځيګ- کلک- سټغ- مؤنث شله-

شل پل:(ش-ل-په-ل)اسم صفت- ساده بلده-

شلتوب:(ش-ل-توب)اسم- (۱)ناراسي- بې تهذيبي- (۲)بې حاصلي- (۳)ناهمواره- شلتيا-

شلتيا:(ش-ل-تيا)اسم- وګورئ: شلتوب-

شر:(شر)اسم- واحد- مذکر- (۱)شرارت- (۲)جنګ-

شر:(شر)اسم صوت- پهٔ هوا کښې د غشي تللو آواز-

شراب:(ش-راب)اسم- واحد- مذکر- بوزه- بهال- نشه- مے- يو نشئيز شربت- دُ انګورو نه ليستے شوې اُبهٔ چې دُ نشې دُ پاره استعماليږي- (م- عربي)-

شراب خور:(ش-راب-خور)اسم صفت- شرابي- دُ شرابو څښونکے-

شرابڼه:(ش-رابڼه)اسم صفت- مؤنث- شرابي ښځه- جمع شرابڼې-

شرابي:(ش-رابي)اسم صفت- (۱) هغه سړے چې شراب څښي- (۲)دُ شرابو خوند يا رنګ لرونکے-

شرارت:(ش-را-رت)اسم- واحد- مذکر- بدي- شيطانے- شر- وراني- پېلات- فتنه- (م- عربي)-

شرارتي:(شه-را-رتي)اسم صفت- ورانکار- شرارت کونکے- پېلاتي-

شرارتيا:(شه-را-رت-يا)اسم- شرارت کونه- وګورئ: شرارت-

شراړے:(شه-راړے)اسم صوت- شرهاو- شړاو- شړاه- دُ اُبو دُ بهېدو او باران شراړے چې ناوې کښې بهيږي-

شرافت:(شه-را-فت)اسم- (۱)عزت- (۲) اصالت- (۳)ښهٔ سړيتوب- شائسته- ښهٔ اخلاق- (م- عربي)-

شراکت:(شه-را-کت)اسم- واحد- مذکر- شريک کېدنه- ګډون- يووالے-

شراکتي:(شه-را-کتي)اسم- واحد- مذکر- پهٔ کاروبار کښې شريک- شريکوال- برخه خور- حصه دار- ملګرے- انډيوال-

شرام:(شه-رام)اسم- ويره- (افغانستان)-

شربانے:(شر-با-نے)اسم- واحد- مذکر- اشربانے- اشرکرندے- اشر کښې برخه اخستونکے-

شربت:(شر-بت)اسم- واحد- مذکر- (۱)خوږې اُبهٔ- (۲)رشوت- بډې- جمع شربتونه-

ے- (ځې-رړ)، ې-(مې-ره-وړ)، ی-(يما-لې)، يے-(تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

شربتي:[شَر-بَه-تي]اسم صفت- دَ شربت پهٔ شان رنګ يا خوند لرونکے-
شربل:[شَر-بَل]مصدر- وګورئ شاربل-
شربلے:[شَر-بَه-لے]اسم مفعول- جمع شربلي- مؤنث شربلې- وګورئ شربل-
شربنګ:[شَر-بَنګ]حاصل مصدر- وګورئ شربل-
شربن:[شَر-بَن]حاصل مصدر- وګورئ شربل-
شربنه:[شَر-بَه-نه]حاصل مصدر- وګورئ شربل-
شربونکے:[شَر-بُون-کے]اسم فاعل- جمع شربونکي- مؤنث شربونکې- وګورئ شربل-
شرپ:[شَرپ]اسم صوت- شرپ- دَ اُبو اواز-
شرپ:[شَرپ]اسم- واحد- مذکر- يوه وَنه چې دَ سروې پهٔ شان وی او پاڼې يې دَ لرچې پهٔ شان وی-
شرپهار:[شَر-پهٔ-هار]اسم صوت- شرپهار- دَ اُبو مُسلسل آواز-
شرتو شهاړس:[شَر-تو-شُها-ړس]اسم صفت- درمم برمم- تيت پرک- حوارهٔ وارهٔ- تس نس- (افغانستان)-
شرح:[شَه-رَح]اسم- بيان- ښوونه- معنیٰ- تفسير- (م- عربي)-
شرر:[شَه-رَر]اسم- واحد- مذکر- بڅرکے- سپنکے- شراره- سپرغی- (م- عربي)-
شرړا:[شَر-ړا]اسم صوت- دَ اُبو دَ بهېدو اواز-
شرړول:[شَر-ړَول]مصدر- دَ شراړی اواز اېستل-
شرړون:[شَر-ړَون]حاصل مصدر- وګورئ شرړول-
شرړونکے:[شَر-ړَوون-کے]اسم فاعل- جمع شرړونکي- مؤنث شرړونکې- وګورئ شرړول-
شرړېدل:[شَر-ړې-دَل]مصدر- دَ کمو اُبو دَ بهېدو اواز وتل- شر شر کول- شرار کول-
شرړېدن:[شَر-ړې-دَن]حاصل مصدر- وګورئ شرړېدل-
شرړېدنګ:[شَر-ړې-دَنګ]حاصل مصدر- وګورئ شرړېدل-
شرړېدنه:[شَر-ړې-دَنه]حاصل مصدر- وګورئ شرړېدل-
شرړېدونکے:[شَر-ړې-دُون-کے]اسم فاعل- جمع شرړېدونکي- مؤنث شرړېدونکې- وګورئ شرړېدل-
شرړېدهٔ:[شَر-ړې-دهٔ]حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ شرړېدل-
شرشانې:[شَر-شا-نې]اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ پخواني زماني دَ وزن پيمانه- (۲)لږ شيز-
شرشر:[شَر-شَر]اسم صوت- لهٔ پورته دَ اُبو راغرځېدولو آواز-
شرشرى:[شَر-شَ-رى]اسم- واحد جمع- مؤنث- شرشوتی- تونګه- دَ اتش بازی يو شکل-
شرشوبنده:[شَر-شو-بَن-ده]اسم- واحد- مؤنث- زنځه- پيري پښې لرونکې يوه حشره- هزارپا- جمع شرشوبندې-

شرط:[شَرط]اسم- واحد- مذکر- بازی- قول او اقرار- وعده- دَ يو کار پهٔ مقابله کښې دَ بل کار کولو وعده- قاعده- دستور- (م- عربي)-
شرطنامه:[شَرط-نا-مه]اسم- واحد- مؤنث- هغه دستاويز چې شرطونه پرې ليکلے شوی وی- جمع شرطنامې-
شرطي:[شَر-طي]اسم- دَ شرط سره منسوب- وګورئ شرط-
شرع:[شَ-رَع]اسم- شرعه- هغه نيغه لاره چې الله تعالیٰ پرې دَ تلو حکم ورکړے دے- اسلامی قانون- رښتونې لار- (م- عربي)-
شرعه:[شَر-عه]اسم- واحد- مؤنث- وګورئ شرع-
شرعي:[شَر-عي]متعلق فعل- دَ شريعت پهٔ حقله- دَ شرعې سره متعلق-
شرغشے:[شَر-غَه-شے]اسم- واحد- مذکر- (۱)يو قسم بوټے چې خوړ وور وی او تېرهٔ تېرهٔ غشی لری- (۲)دَ شکوڼ غشے- شلغشے- جمع شرغشي-
شرغدويه:[شَر-غَن-دو-يه]اسم- واحد- مؤنث- اوربے- يو قسم شړشم-
شرغه:[شَر-غه]اسم صفت- واحد- مذکر- هغه اَس چې تندے يا سترګې يې سپينې وی-
شرف:[شَرف،شَ-رَف]اسم- عظمت- لوئی- لوئے والے- بزرګی- خوبی- ښېګړه- عزت- (م- عربي)-
شرق:[شَرق]اسم- واحد- مذکر- نمرخاته- مشرق- (م- عربي)-
شرک:[شرک]اسم- واحد- مذکر- دَ الله تعالیٰ سره شريک منه- شريکونه-
شرک:[شَ-رک]اسم- واحد- مذکر- پرستن- شيرک- تولتکه- نالی- نيالی-
شرک:[شَرک]اسم صوت- (۱)دَ چابک دَ وهلو اواز- (۲)دَ زړهٔ درزا-
شرکت:[شَر-کَت]اسم- واحد- مذکر- شراکت- ملګرتيا- پهٔ څهٔ کار کښې برخه خوری- ګډون- (م- عربي)-
شرکه:[شَر-که]اسم- واحد- مؤنث- وګورئ شرکهار-
شرکهار:[شَر-کَه-هار]اسم صوت- دَ چابک دَ مسلسل وهلو آواز- شرکه-
شرکی:[شَر-کی]اسم- واحد- مؤنث- يو قسم ساګ-
شرم:[شَ-رَم]اسم- (۱)حيا- (۲)الزام- تهمت- (۳)خون بها- سپکاوے- ناموس- (م- فارسي)-
شرم بوټے:[شَ-رَم-بو-ټے]اسم- واحد- مذکر- شرم ګياه- يو قسم بوټے- مجالو-
شرمبی:[شَرم-بی]اسم- واحد- مؤنث- کونجی- شولکی- دَ شوملو دَ څښلو منقش لوښے-
شرم پرده:[شَ-رَم-پَر-ده]اسم- شرم او پرده- حيا- عزت- ستر- پرده-
شرمژن:[شَ-رَم-ژَن]اسم صفت- حياناک- شرمناک-
شرمخای:[شَ-رَم-خای]اسم- بد ځای- دَ تشو موتيازو اندام-
شرم حيا:[شَ-رَم-حَيا]اسم مرکب- وګورئ شرم پرده-
شرمسار:[شَ-رَم-سار]اسم صفت- شرمنده- پښېمان- نادم- خړ- پيکه- سرمدلے-
شرمين:[شَر-مين]اسم- واحد- مذکر- (۱)لېږهٔ- کرک- سائنسی نوم-کېنډس

"زبر"(ع-بة-سره)، "زورکے"(شل)، "پېش"(نو-کتا-سره)، "زېر"(کے-تاب)، "جزم"(شکون)، "ۀ"(ړ-ږه)، "ۀ"(دو-بي-دهٔ)

www pukhto.net

لوپس پلی پس (CANIS LUPUS PALLIPES)- (۲)ظالم- حرامخور-

شرمښ بېړۍ:(شر-مَښ-بې-ړۍ)اسم- واحد- مؤنث- دَ لېوهٔ سپېنته- دَ لېوهٔ بېړۍ-

شرمښکي:(شر-مَښ-کي)اسم- واحد- مؤنث- چرمښکي- ګرمښکي- پانتو پېسه- کرمښار-

شرمګ:(شَر-مګ)اسم- واحد- مذکر- شرمګ- مره غوښے- یو تریخ بوټے- مره غوښی-

شرمګاه:(شه-رَم-ګاه)اسم- واحد- مذکر- وګورئ شرم ځايِ-

شرم ګیاه:(ش-رم-ګ-یا)اسم- شرم بوټے- مجالو- شرمنده بوټے-

شرمګیر :(ش-رم-ګیر)اسم صفت- حیاناک- شرمېدونکے-

شرمناک:(ش-رم-ناک)اسم صفت- شرمېدونکے- حیادار- حیاناک-

شرمندوک:(شر-من-دوک)اسم صفت- واحد- منکر- حیاناک- هغه څوک چې کلک سترګے وی او حیا پکښې نهٔ وی-

شرمنده:(شر-من-ده)اسم صفت- پښېمان- ملامته- شرمېدلے- خیرجه- پیکه- ځړ- (م- فارسی)-

شرمنده بوټے:(شر-من-ده-بو-ټے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ شرم بوټے-

شرمول:(شر-مه-ول)مصدر- شرمنده کول- (۲)خفه کول- (۲)غول-

شرمولے:(شر-مه-وَ-ملے)اسم مفعول- جمع شرمولی- مؤنث شرمولې- وګورئ شرمول-

شرمون:(شر-مه-ون)حاصل مصدر- وګورئ شرمول-

شرمونګ:(شر-مه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ شرمول-

شرمونکے:(شر-مه-وون-کے)اسم فاعل- جمع شرمونکی- مؤنث شرمونکې- وګورئ شرمول-

شرمونه:(شر-مه-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ شرمول-

شرمونے:(شر-مه-ونے)اسم فاعل- جمع شرمونی- مؤنث شرمونې- وګورئ شرمول-

شرمیندګی:(شر-مین-ده-ګي)اسم- شرمینګی- خجالت- سپکتیا- مخ توری- (م- فارسی)-

شرمیندوک:(شر-مین-دوک)اسم- واحد- مذکر- هغه بوټے چې پاتې يې دَ لاس ور وړو سره مراوی کیږی پهٔ هندی کښې ورته لاجونتی وائی- نباتاتی نوم میموسه سینسی ټیوا (MIMOSA SENSITIVA) یا ایم پوډیکا (M PUDICA)-

شرمینګي:(شر-مین-ګي)اسم- وګورئ شرمندګی- (مغفن)-

شرمېدل:(شر-مې-دل)مصدر- نادمه کېدل- شرمنده کېدل- بدنامېدل-

شرمېدلے:(شر-مې-دَ-ملے)اسم مفعول- جمع شرمېدلی- مؤنث شرمېدلې- وګورئ شرمېدل-

شرمېدن:(شر-مې-دن)حاصل مصدر- وګورئ شرمېدل-

شرمېدنګ:(شر-مې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ شرمېدل-

شرمېدنه:(شر-مې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ شرمېدل-

شرمېدونکے:(شر-مې-دون-کے)اسم فاعل- جمع شرمېدونکی- مؤنث شرمېدونکې- وګورئ شرمېدل-

شرمېدهٔ:(شر-مې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ شرمېدل-

شرنګ:(شه-رنګ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ شرمګ-

شرنګ:(شرنګ)اسم صوت- دَ پانزیب یا دَ ټوپک دَ ګولی آواز-

شرنګا:(شرنګ-ګا)اسم صوت- وګورئ شرنګهار-

شرنګاشرنګ:(شرنګ-ګا-شرنګ)اسم صوت- (۱)شرنګ شرونګ- (۲)دَ پیکړو او بنګړو وغېره شرنګهار- (۳)شور- شرنګ شرونګ- دَ بنګړو او ګنګرو شنها-

شرنګا شرونګه:(شرنګ-ګا-شرونګ-ګه)اسم صوت- شرنګا شرونګ- شرنګ شرونګ- شرنګهار- د ګونګروګانو او پائیلو اوازونه-

شرنګاوو:(شرنګ-ګا-وو)اسم صوت- شرنګا- شرنګ- کرنګ-

شرنګ شرونګ:(شرنګ-شرونګ)اسم صوت- ټنګ ټکور- دَ کېدونکي لښتی یا بمې د ګونګروګانو شنهار-

شرنګول:(شرنګ-ګه-ول)مصدر- دَ پانزېبو وغېره آوازونه راپستل- دَ تورو یا د نورو داسې څیزونو دَ جنګېدو اواز چې لهٔ اسپنې یا دَ دې پهٔ شان څیز نه جوړ وی-

شرنګولے:(شرنګ-ګه-وَ-ملے)اسم مفعول- جمع شرنګولی- مؤنث شرنګولې- وګوری شرنګول-

شرنګون:(شرنګ-ګه-ون)حاصل مصدر- وګورئ شرنګول-

شرنګونکے:(شرنګ-ګه-وون-کے)اسم فاعل- جمع شرنګونکی- مؤنث شرنګونکې- وګورئ شرنګول-

شرنګونګ:(شرنګ-ګه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ شرنګول-

شرنګونه:(شرنګ-ګه-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ شرنګول-

شرنګهار:(شرنګ-ګا-هار)اسم صوت- دَ ګونګروګانو آواز- دَ جرس آواز- شرنګا- شرنګا-

شرنګېدل:(شرنګ-ګې-دل)حاصل مصدر- دَ جرس یا دَ پانزېبو آواز راوتل- شرنګېدل- کرنګېدل-

شرنګېدلے:(شرنګ-ګې-دَ-ملے)اسم مفعول- جمع شرنګېدلی- مؤنث شرنګېدلې- وګورئ شرنګېدل-

شرنګېدن:(شرنګ-ګې-دن)حاصل مصدر- وګورئ شرنګېدل-

شرنګېدنګ:(شرنګ-ګې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ شرنګېدل-

شرنګېدونکے:(شرنګ-ګې-دون-کے)اسم فاعل- جمع شرنګېدونکی- مؤنث شرنګېدونکې- وګورئ شرنګېدل-

شرنګېدنه:(شرنګ-ګې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ شرنګېدل-

شرنګېدهٔ:(شرنګ-ګې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ شرنګېدل-

شرنګے:(شرنګ-ګے)اسم صوت- د جرس اواز- د شرنګ اواز-

ۍ (ښۍ-رل)، ي (هې-رم-ول)، ئ (پیا-لئ)، ے (تن-دے) تفصیل دَ پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

شرو:(شرو)اسم- دَ غرهٔ خاوره چې دَ صابون پهٔ طور استعمالیږی-

شروپ:(ش-روپ)اسم- شراب- مے- (عامیانه)-

شروت:(شروت)اسم- غنجال- ترشه میوه-

شروع:(ش-روع)اسم- آغاز- ابتدا- اول- (م- عربی- فارسی)-

شرهار:(شه-ر-هار)اسم صوت- (۱)شرار- دَ بهېدونکو اُبو آواز- بړهار- (۲)شغار- دَ خول یا سیلی آواز- پهٔ هوا کښې دَ تېز تېرېدونکی څیز آواز-

شری:(شه-ری)اسم صفت- ورانکارے- چې هروخت جنګ ته تیار وی- جمع شریان-

شریان:(ش-ریان)اسم- جمع- مذکر- هغه رګ چې له زړهٔ نه دَ بدن نورو حصو ته وینه رسوی- (م- عربی)-

شریپه:(ش-ری-په)اسم- واحد- مؤنث- هغه دېوال چې دَ چت دَ چچې دَ پاسه ختلے وی-

شریر:(ش-ریر)اسم صفت- شرارت کونکے- شر خوښونکے- (م- عربی)-

شریعت:(ش-ری-عت)اسم- واحد- مذکر- شرع- دَ قرآن او سُنت اسلامی دستور او قانون- (م- عربی)-

شریف:(ش-ریف)اسم صفت- شرافت لرونکے- ایماندار- نېک- ساده (م- عربی)-

شریفه:(ش-ری-فه)اسم- واحد- مؤنث- (۱) بلی- (۲)سرماتے- سربی- چتی- (۳)یوه میوه چې دننه سره وی-

شریک:(ش-ریک)اسم صفت- (۱)پهٔ څهٔ کار کښې شریک- (۲)کرونده ګر- (۳)حصه دار- (۴)برخه خور چې زمکه څوک خوری- (۵)کم- یوځای- شریکوال- انډیوال-

شریک خور:(ش-ریک-خور)اسم صفت- شراکتی- برخه ور- برخه خور-

شریکول:(ش-ری-که-ول)مصدر- ملګرے کول- ګډول- یو ځایٔ کول-

شریکون:(ش-ری-که-ون)حاصل مصدر- وګوری: شریکول-

شریکونکے:(ش-ری-که-ون-کے)اسم فاعل- جمع شریکونکی- مؤنث شریکونکې- وګوری: شریکول-

شریکونه:(ش-ری-که-و-نه)حاصل مصدر- وګوری: شریکول-

شریکه:(ش-ری-که)اسم صفت- واحد- مؤنث- پهٔ ګډه- پهٔ څوکسی- دَ شراکت- چې دَ څو کسانو پکښې برخه وی- دَ وېشل شوې ضد- دَ تقسیم ضد-

شریکی:(ش-ری-کی)اسم- (۱)برخه- حصه- (۲)شراکت- پهٔ برخه زمکه خوړل- ګروندګری-

شریکی کول:(ش-ری-کی-کول)مصدر- شراکت کول- محبت کول- یوځایٔ کېدل-

شریکېدل:(ش-ری-کې-دل)مصدر- ملګرے کېدل- یو ځایٔ کېدل-

شریکېدن:(ش-ری-کې-دن)حاصل مصدر- وګوری: شریکېدل-

شریکېدنګ:(ش-ری-کې-دنګ)حاصل مصدر- وګوری: شریکېدل-

شریکېدونکے:(ش-ری-کې-دون-کے)اسم فاعل- جمع شریکېدونکی- مؤنث شریکېدونکې- وګوری: شریکېدل-

شریکېدنه:(ش-ری-کې-د-نه)حاصل مصدر- وګوری: شریکېدل-

شریکېدهٔ:(ش-ری-کې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګوری: شریکېدل-

شریکے:(ش-ری-کے)اسم صفت- شریک- دَ شریکې- دَ شراکت پهٔ ګډه-

شرے:(شه-رے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم ناروغی- د ماشومانو هغه مرض چې پهٔ ټول وجود یٔ نری نری سرې دانې راوخېژی- خسره-

شړ:(شړ)اسم صفت- (۱)شاړ- غیرآباده- بنجره- (۲)بې حاصله- بې فائدې- بې توښې- (۳)یو قسم نل چې مېنځ یٔ پوک وی-

شړ:(شړ)اسم صوت- شړار- شړارے- دَ اُبو دَ مستی آواز- دَ اُبو دَ بهېدو آواز-

شړا:(شه-ړا)اسم صوت- دَ اُبو دَ بهېدو آواز- شړار-

شړار:(شه-ړار)اسم صوت- وګوری: شړا-

شړارے:(شه-ړا-رے)اسم صوت- وګوری: شړا-

شړېدل:(شه-ړې-دل)مصدر- بنجرېدل- بې فائدې کېدل-

شړېدلے:(شه-ړې-د-لے)اسم مفعول- جمع شړېدلی- مؤنث شړېدلې- وګوری: شړېدل-

شړېدن:(شه-ړې-دن)حاصل مصدر- وګوری: شړېدل-

شړېدنګ:(شه-ړې-دنګ)حاصل مصدر- وګوری: شړېدل-

شړېدونکے:(شه-ړې-دون-کے)اسم فاعل- جمع شړېدونکی- مؤنث شړېدونکې- وګوری: شړېدل-

شړېدنه:(شه-ړې-د-نه)حاصل مصدر- وګوری: شړېدل-

شړېده:(شه-ړې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګوری: شړېدل-

شړپ:(شړپ)اسم صوت- دَ اُبو توېولو آواز- شړپا- شړهار- شړپار-

شړپا:(شړ-پا)اسم صوت- وګوری: شړپ-

شړپار:(شړ-پار)اسم صوت- وګوری: شړپ-

شړپ شړپ:(شړپ-شړپ)اسم صوت- (۱)چړپ چړپ- دَ سپی دَ خوراک یا څښاک آواز- (۲)متعلق فعل- پهٔ بدتمیزی سره خوړمه-

شړپ شړوپ:(شړپ-شړوپ)اسم صوت- د اُبو د خوځولو یا پهٔ چپو کښې د حرکت آواز-

شړپول:(شړ-په-ول)مصدر- اُبو ته حرکت ورکول-

شړپولے:(شړ-په-و-لے)اسم مفعول- جمع شړپولی- مؤنث شړپولې- وګوری: شړپول-

شړپون:(شړ-په-ون)حاصل مصدر- وګوری: شړپول-

شړپونګ:(شړ-په-ونګ)حاصل مصدر- وګوری: شړپول-

شړپونکے:(شړ-په-ون-کے)اسم فاعل- جمع شړپونکی- مؤنث شړپونکې-

زبر"(خ-بهٔ-ره)، زورکے"(شل)، پېښ"(فو-کا-ره)، زېر"(ک-تاب)، جزم"(شکوې)، ڼ"(ر-ڼه)، ۀ"(پو-ښې-دهٔ)

www pukhto net

وګورئ شړپول-

شړپونه:(شړ-پهـ-و-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ شړپول-

شړپه:(شړ-پهـ)اسم صوت- دَ اُبو دَ حرکت اواز- دَ پردی مال پهٔ بېدرادي سره خرڅ کونه-

شړپهار:(شړ-پهـ-هار)اسم صوت- وګورئ شړپ-

شړپېدل:(شړ-پې-دَل)مصدر- دَ اُبو دَ حرکت آواز وتل- پهٔ اُبو کښې ځېږي راتلل-

شړپېدلے:(شړ-پې-دَ-لے)اسم مفعول- جمع شړپېدلی- مؤنث شړپېدلې- وګورئ شړپېدل-

شړپېدن:(شړ-پې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ شړپېدل-

شړپېدنګ:(شړ-پې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ شړپېدل-

شړپېدونکے:(شړ-پې-دُون-کے)اسم فاعل- جمع شړپېدونکی- مؤنث شړپېدونکې- وګورئ شړپېدل-

شړپېدنه:(شړ-پې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ شړپېدل-

شړپېدهٔ:(شړ-پې-دَهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ شړپېدل-

شړت:(شړت)اسم صوت- (۱)پهٔ مائع څیز کښې دَ بل مائع څیز دَ اچولو نه پس راوتونکے آواز- (۲- اسم)ابلن څیز ته حرکت ورکونه-

شړت:(شړت)اسم صفت- مړاوے-

شړتول:(شړ-تهـ-وَل)مصدر- (۱)ابلن څیز ته حرکت ورکول- لهٔ اُبو دَ حرکت پهٔ وجه آواز وتل- (۲)مستول- (۳)پر بې قاعدې کول- (۴)خرابول-

شړتوب:(شړ-توب)اسم- شاړوالے- شاړبدنه-

شړتولے:(شړ-تهـ-و-لے)اسم مفعول- جمع شړتولی- مؤنث شړتولې- وګورئ شړتول-

شړتون:(شړ-تهـ-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ شړتول-

شړتونګ:(شړ-تهـ-وَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ شړتول-

شړتونکے:(شړ-تهـ-وون-کے)اسم فاعل- جمع شړتونکی- مؤنث شړتونکې- وګورئ شړتول-

شړتونه:(شړ-تهـ-و-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ شړتول-

شړتېدل:(شړ-تې-دَل)مصدر- (۱)شړپېدل- (۲)دَ حرکت پهٔ وجه لهٔ اُبو آواز وتل- (۳)خرابېدل-

شړتېدلے:(شړ-تې-دَ-لے)اسم مفعول- جمع شړتېدلی- مؤنث شړتېدلې- وګورئ شړتېدل-

شړتېدن:(شړ-تې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ شړتېدل-

شړتېدنګ:(شړ-تې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ شړتېدل-

شړتېدونکے:(شړ-تې-دُون-کے)اسم فاعل- جمع شړتېدونکی- مؤنث شړتېدونکې- وګورئ شړتېدل-

شړتېدنه:(شړ-تې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ شړتېدل-

شړتېدهٔ:(شړ-تې-دَهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ شړتېدل-

شړشپه:(شړ-شهـ-پهـ)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ړکه- تنکسه- (۲)دَ طوفان یا جنګ ورستی شپه- جمع شړشپې- (افغانستان)-

شړشم:(شړ-شم)اسم- یو قسم تخم چې تېل ترې وځی او پاڼې یې دَ ساګ پهٔ دود پخولے شی- نباتاتی نوم سناپس ډائي کوټوما(SINAPIS DICHOTOMA)-

شړط:(شړط)اسم- دَ شرط عامیانه تلفظ- وګورئ شرط-

شړطی:(شړ-طي)اسم- (۱)شرطیه- لازمی- دَ شرط سره متعلق- خامخا- (۲)شړطی کونه- دَ وېنځلو جامو پهٔ اُبو کښې دَ پاکولو دَ پاره وهنه-

شړق:(شړق)اسم صوت- (۱)دَ څهٔ څیز دَ راغورځېدو یا دَ ماتېدو آواز- (۲)پهٔ چابک یا کروړه دَ وهلو آواز- (۳)دَ ګوزار آواز- شړک- (۴)دَ باران چړق- (۵)ناګهانی آفت-

شړق شپه:(شړق-شې-پهـ)اسم- واحد- مؤنث- تېز باران-

شړقول:(شړ-قهـ-وَل)مصدر (۱)شړکول- وهل ټکول- دَ مائع څیز نه دَ حرکت پهٔ زور آواز اېستل- (۲)خوځول- پهٔ څپېرو وهل-

شړقولے:(شړ-قهـ-و-لے)اسم مفعول- جمع شړقولی- مؤنث شړقولې- وګورئ شړقول-

شړقون:(شړ-قهـ-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ شړقول-

شړقونګ:(شړ-قهـ-وَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ شړقول-

شړقونکے:(شړ-قهـ-وون-کے)اسم فاعل- جمع شړقونکی- مؤنث شړقونکې- وګورئ شړقول-

شړقونه:(شړ-قهـ-و-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ شړقول-

شړقېدل:(شړ-قې-دَل)مصدر- وهلے ټکولے کېدل- خوزېدل- پهٔ څپېرو وهلے کېدل-

شړقېدلے:(شړ-قې-دَ-لے)اسم مفعول- جمع شړقېدلی- مؤنث شړقېدلې- وګورئ شړقېدل-

شړقېدن:(شړ-قې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ شړقېدل-

شړقېدنګ:(شړ-قې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ شړقېدل-

شړقېدونکے:(شړ-قې-دُون-کے)اسم فاعل- جمع شړقېدونکی- مؤنث شړقېدونکې- وګورئ شړقېدل-

شړقېدنه:(شړ-قې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ شړقېدل-

شړقېدهٔ:(شړ-قې-دَهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ شړقېدل-

شړک:(شړک)اسم صوت- وګورئ شړق-

شړکول:(شړ-کهـ-وَل)مصدر وګورئ شړقول-

شړکولے:(شړ-کهـ-و-لے)اسم مفعول- جمع شړکولی- مؤنث شړکولې- وګورئ شړکول-

شړکونکے:(شړ-کهـ-وون-کے)اسم فاعل- جمع شړکونکی- مؤنث شړکونکې-

ئ= (ئی-رِل)، ې=(ئې-ره-وِل)، ی=(یا-لِي)، ے=(تن-دیے) تفصیل دَ پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

334E

وکورئ شړکول-
شړکونه:(شړ-کـ-وڼـنه)حاصلِ مصدر- وکورئ شړکول-
شړکهار:(شړ-کـ-هار)اسمِ صوت- دُ وهلو آواز-
شړکېدل:(شړ-کې-دَل)مصدر- وکورئ شړقېدل-
شړکېدلے:(شړ-کې-دهٔ-لے)اسمِ مفعول- جمع شړکېدلی- مؤنث شړکېدلې-
وکورئ شړکېدل-
شړکېدنه:(شړ-کې-دڼـنه)حاصلِ مصدر- وکورئ شړکېدل-
شړکېدونکے:(شړ-کې-دُون-کے)اسمِ فاعل- جمع شړکېدونکی- مؤنث
شړکېدونکې- وکورئ شړکېدل-
شړکېدهٔ:(شړ-کې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دُ ماضی استمراری دُ واحد غائب
صیغه- وکورئ شړکېدل-
شړل:(شه-ړل)مصدر- (۱)لهٔ کوره یا لهٔ خانه لرې کول- لحوا کول- (۲)رټل-
شړلے:(شه-ړهٔ-لے)اسمِ مفعول- جمع شړلی -مؤنث شړلې- وکورئ شړل-
شړم:(شړم)اسمِ صفت- سُست- کاهل- ناراسته-
شړمبې:(شړم-بې)اسم- شوملې- شلومبې- شړومبې- تروې- شنه پې-
شړمتوب:(شړم-توب)اسم- شړموالے- کاهلی- سُستی-
شړموالے:(شړم-وا-لے)اسم- وکورئ شړمتوب-
شړمول:(شړم-مـ-ول)مصدر- کاهلول- سُستول- سُست جوړول-
شړمون:(شړم-مـ-ون)حاصلِ مصدر- وکورئ شړمول-
شړمونګ:(شړم-مـ-ونګ)حاصلِ مصدر- وکورئ شړمول-
شړمونکے:(شړم-مـ-وون-کے)اسمِ فاعل- جمع شړمونکی- مؤنث شړمونکې-
وکورئ شړمول-
شړمونه:(شړم-مـ-وڼـنه)حاصلِ مصدر- وکورئ شړمول-
شړمېدل:(شړم-مې-دَل)مصدر- کاهلېدل- سُستېدل- ناراسته کېدل-
شړمېدلے:(شړم-مې-دهٔ-لے)اسمِ مفعول- جمع شړمېدلی- مؤنث شړمېدلې-
وکورئ شړمېدل-
شړمېدن:(شړم-مې-دن)حاصلِ مصدر- وکورئ شړمېدل-
شړمېدنګ:(شړم-مې-دنګ)حاصلِ مصدر- وکورئ شړمېدل-
شړمېدونکے:(شړم-مې-دُون-کے)اسمِ فاعل- جمع شړمېدونکی- مؤنث
شړمېدونکې- وکورئ شړمېدل-
شړمېدنه:(شړم-مې-دڼـنه)حاصلِ مصدر- وکورئ شړمېدل-
شړمېدهٔ:(شړم-مې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دُ ماضی استمراری دُ واحد غائب
صیغه- وکورئ شړمېدل-
شړن:(شه-ړن)حاصلِ مصدر- وکورئ شړل-
شړنګ:(شړنګ)اسمِ صوت- وکورئ شرنګ-
شړنګ شړونګ:(شړنګ-شړونګ)اسمِ صوت- شرنګ شرونګ- دُ شنها آواز- دُ
شرنګا آواز-
شړنګول:(شړنګ-کـ-ول)مصدر- شرنګول- دُ څهٔ څیز نه دُ شرنګا آواز اېستل-
شړنګ ورکول-
شړنګولے:(شړنګ-کـ-وڼ-لے)اسمِ مفعول- جمع شړنګولی- مؤنث شړنګولې-
وکورئ شړنګول-
شړنګون:(شړنګ-کـ-ون)حاصلِ مصدر- وکورئ شړنګول-
شړنګونګ:(شړنګ-کـ-ونګ)حاصلِ مصدر- وکورئ شړنګول-
شړنګونکے:(شړنګ-کـ-وون-کے)اسمِ فاعل- جمع شړنګونکی- مؤنث
شړنګونکې- وکورئ شړنګول-
شړنګونه:(شړنګ-کـ-وڼـنه)حاصلِ مصدر- وکورئ شړنګول-
شړنګهر:(شړنګ-کـ-هر)اسمِ صوت- شړنګار- شرنګا- شرنګ شرونګ-
شړنګېدل:(شړنګ-کې-دَل)مصدر- شرنګېدل- شرنګا کول- شرنګ شرونګ کول-
شړنګېدلے:(شړنګ-کې-دهٔ-لے)اسمِ مفعول- جمع شړنګېدلی- مؤنث
شړنګېدلې- وکورئ شړنګېدل-
شړنګېدن:(شړنګ-کې-دن)حاصلِ مصدر- وکورئ شړنګېدل-
شړنګېدنګ:(شړنګ-کې-دنګ)حاصلِ مصدر- وکورئ شړنګېدل-
شړنګېدونکے:(شړنګ-کې-دُون-کے)اسمِ فاعل- جمع شړنګېدونکی- مؤنث
شړنګېدونکې- وکورئ شړنګېدل-
شړنګېدنه:(شړنګ-کې-دڼـنه)حاصلِ مصدر- وکورئ شړنګېدل-
شړنګېدهٔ:(شړنګ-کې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دُ ماضی استمراری دُ واحد غائب
صیغه- وکورئ شړنګېدل-
شړنګے:(شړنګ-کے)اسم- واحد- مذکر- کنګوسه- نرے آواز- جمع شړنګی-
شړنه:(شه-ړڼـنه)حاصلِ مصدر- وکورئ وکورئ شړل-
شړوالے:(شړ-وا-لے)اسم- شاړوالے- شاړتوب- بنجرېدنه- بې فائدې کېدنه-
بې ځېکړې کېدنه-
شړوپ:(شړوپ)اسمِ صوت- غړپ- غړوپ- دُ څهٔ څیز دُ څښلو یا چوپلو آواز-
دُ څهٔ څیز پهٔ اُبو کښې دُ غرځېدو آواز-
شړوت:(شړوت)اسمِ صوت- (۱)دُ مایع څیز دُ څښلو آواز- (۲)دُ مرز دُ الوتلو
پهٔ وخت اواز- (۳)دُ مایع څیز نه زور سره دُ راوتلو آواز-
شړوخ:(شړوخ)اسم- واحد- مذکر- ګرمن- دُ انسانی بدن پوټکے- شولتک-
څمرکه- څمره- خور-
شړول:(ش-ړ-ول)مصدر- شاړول- بې حاصله کول- بنجرول- بې فائدې
کول- ضائع کول-
شړولے:(ش-ړ-وڼ-لے)اسمِ مفعول- جمع شړولی- مؤنث شړولې- وکورئ
شړول-
شړون:(ش-ړ-ون)حاصلِ مصدر- وکورئ شړول-
شړون:(شه-ړون)اسم- وکورئ شړل-
شړونکے:(ش-ړون-کے)اسمِ فاعل- جمع شړونکی- مؤنث شړونکې- وکورئ
شړل-
شړونکے:(ش-ړ-وون-کے)اسمِ فاعل- جمع شړونکی- مؤنث شړونکې-

www.pukhto.net

وګورئ شړول۔

شړونک پړونک:(شړونګ-پړونګ)اسم صفت۔ سُست پُست۔ کاهل۔

شړونکے:(شړونګ-کے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ کمې او پۀ مزه رواني اُبۀ۔

شړونه:(شه-ړو-نه)حاصل مصدر۔ وګورئ شړول۔

شړه:(شه-ړه)اسم صفت۔ شاړه۔ مېجره رمکه۔

شړه موږه:(شه-ړه-مو-ږه)اسم۔ اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ سرماتې۔ (افغانستان)۔

شړهار:(شه-ړه-هار)اسم صوت۔ دَ اُبو دَ شړ شړ اَواز۔

شړهېدل:(شړ-هې-دَل)مصدر۔ مړاوے کېدل۔

شړهېدلے:(شړ-هې-دَ-لے)اسم معقول۔ جمع شړهېدلی۔ مؤنث شړهېدلې۔ وګورئ شړهېدل۔

شړهېدن:(شړ-هې-دَن)حاصل مصدر۔ وګورئ شړهېدل۔

شړهېدونکے:(شړ-هې-دُون-کے)اسم فاعل۔ جمع شړهېدونکی۔ مؤنث شړهېدونکې۔ وګورئ شړهېدل۔

شړینکے:(شه-ړین-کے)اسم تصغیر۔ وړه شړئ۔ شړینګۍ۔

شړینګۍ:(شه-ړینګ-ګۍ)اسم تصغیر۔ وګورئ شړینکے۔

شړېدل:(شه-ړې-دَل)مصدر۔ بنجر کېدل۔ شاړېدل۔ بې فائدې کېدل۔ بې حاصله کېدل۔

شړېدلے:(شه-ړې-دَ-لے)اسم مفعول۔ جمع شړېدلی۔ مؤنث شړېدلې۔ وګورئ شړېدل۔

شړېدن:(شه-ړې-دَن)حاصل مصدر۔ وګورئ شړېدل۔

شړېدنګ:(شه-ړې-دَنګ)حاصل مصدر۔ وګورئ شړېدل۔

شړېدونکے:(شه-ړې-دُون-کے)اسم فاعل۔ جمع شړېدونکی۔ مؤنث شړېدونکې۔ وګورئ شړېدل۔

شړېدنه:(شه-ړې-دَ-نه)حاصل مصدر۔ وګورئ شړېدل۔

شړېدۀ:(شه-ړی-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه۔ وګورئ شړېدل۔

شړېور:(شه-ړې-ور)اسم۔ شړی پسرونکے۔ ساده۔

شړی:(شه-ړی)اسم۔ واحد/جمع۔ مؤنث۔ دَ وړی یا بزو دَ وېښتو نه جوړ شوے څادر۔ کمبل۔

شړی بوټے:(شه-ړی-بو-ټے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دَ خاکشیر دَ خاندان یو بوټے چې پۀ فصل کښې کېږی۔

شست:(شست)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ پۀ کته کښې لګېدلې وړه آئینه۔

شستے:(شس-تے)اسم۔ یو ښائسته ګل۔ ګل داؤدی۔ نباتاتی نوم کرس فیو تیمم (CRYSFUTHEMUM)۔

ششتره:(شش-تَ-ره)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ پېشترے۔ اخنکه۔ یو قسم ساګ۔ جمع ششتری۔ دَ نباتاتی نوم دَ پاره وګورئ اخنک۔

ششدر:(شش-دَر)اسم۔ حیران۔ (م۔ فارسی)۔

شش شش:(شش-شش)اسم صوت۔ شیشکارنه۔ وګورئ شیشکارل۔

ششک:(ش-شک)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ تاخ۔ طاق۔ درے۔ جمع ششکونه۔

ششکارل:(شش-کا-رَل)مصدر۔ کیشکارل۔ توکارل۔ سپے دَ حملې دَ پاره کومارل۔

ششکارلے:(شش-کا-رَ-لے)اسم معمول۔ جمع ششکارلی۔ مؤنث ششکارلې۔ وګورئ ششکارل۔

ششکارن:(شش-کا-رَن)حاصل مصدر۔ وګورئ ششکارل۔

ششکارنه:(شش-کا-رَ-نه)حاصل مصدر۔ وګورئ ششکارل۔

ششکارونکے:(شش-کا-رُون-کے)اسم فاعل۔ جمع ششکارونکی۔ مؤنث ششکارونکې۔ وګورئ ششکارل۔

ششکے:(شش-کے)اسم۔ خیږکے۔ خیزکے۔ ریګاشه۔ دَ شکونې یو قسم۔ جمع ششکی۔

ششنا:(شش-نا)اسم صوت۔ دَ اُس دَ هڼېدو اَواز۔

ششنل:(شش-نَل)مصدر۔ دَ اُس هڼېدل۔ ششنېدل۔ ششڼېدل۔ دَ اُس دَ مستۍ پۀ وجه اَواز وېستل۔

ششنېدل:(شش-نې-دَل)مصدر۔ وګورئ ششنېدل۔

ششنېدن:(شش-نې-دَن)حاصل مصدر۔ وګورئ ششنېدل۔

ششنېدنګ:(شش-نې-دَنګ)حاصل مصدر۔ وګورئ ششنېدل۔

ششنېدونکے:(شش-نې-دُون-کے)اسم فاعل۔ جمع ششنېدونکی۔ مؤنث ششنېدونکې۔ وګورئ ششنېدل۔

ششنېدنه:(شش-نې-دَ-نه)حاصل مصدر۔ وګورئ ششنېدل۔

ششنېدۀ:(شش-نې-دۀ)حاصل مصدر۔ وګورئ ششنېدل۔

ششنے:(شش-نے)اسم صوت۔ دَ اُس دَ مستۍ نه هڼېدنه۔

شش وپنج:(شه-شو-پنج)اسم۔ حیرانی۔ (م۔ فارسی)۔

ششه:(ش-شه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ یو ازغی لرونکے بوټے۔

شطرنج:(شَط-رَنج)اسم۔ دَ یوې لوبې نامه۔ (م۔ عربی)۔

شطرنجی:(شَط-رَن-جی)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ یوه لویه ښائسته درۍ۔

شعار:(شه-عار)اسم۔ عادت۔ طور۔ طریقه۔ چال۔ لاره۔ (م۔ عربی)۔

شعاع:(ش-عاع)اسم۔ دَ نمر ځریکه۔ (م۔ عربی)۔

شعبان:(شع-بان)اسم۔ دَ قمری کال اتمه میاشت۔ (م۔ عربی)۔

شعبده:(شع-بَ-دَه)اسم۔ جادو منتر۔ دوکه بازی۔ تماشه۔ مکر۔ چال۔ فن۔ (م۔ فارسی)۔

شعبده باز:(شع-بَ-دَه-باز)اسم صفت۔ مداری۔ چالاک۔ (م۔ فارسی)۔

شعبده بازی:(شع-بَ-دَه-با-زی)اسم۔ دَ مداری لوبه۔ چالاکی۔ دوکه۔ (م۔ فارسی)۔

شعبه:(شع-به)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)ښاخ۔ حصه۔ ټوکړه۔ (۲)محکمه۔ (م۔ عربی)۔

شعر:(شعر/ش-عر)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ هغه منظوم کلام چې پۀ اراده وونیلے شی او قافیه لری۔ بیت۔

ی" (خې-ړل)، ې"(هې-ره-ؤل)، ئ"(ہیا-لې)، ے"(تن-دے) تفصیل دَ پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

شغله:(شغ-له)اسم- واحد- مؤنث- شعله- دَ اور لمبه- (م- عربي)-
شعور:(ش-عور)اسم- عقل- پوهه- فهم- تميز- سوچ- (م- عربي)-
شغ:(شغ)اسم صوت- (۱)دَ مارغه دَ الوتو په وخت دَ وزرو اواز- د تېزې سيلئ اواز- دَ نوو کپړو اواز- (۲)بيړه- تلوار- تندي-
شغا:(ش-غا)اسم صوت- شغار- دَ شغ شغ مسلسل اواز-
شغار:(شه-غار)اسم صوت- وګورئ شغا-
شغاشغ:(ش-غا-شغ)اسم صوت- دَ ټوپک دَ ګولو اواز-
شغال:(ش-غال)اسم- واحد- مذکر- ګيدړ- چنال-
شغالاتي:(ش-غا-لا-تي)اسم- د ماشومانو يوه لوبه- شلغاتي- ليرې بيرې-
شغالي:(ش-غا-لي)اسم- بې عزتي- بې غيرتي-
شغالے:(ش-غا-لے)اسم صفت- کم اصل- کمينه- رذيل- جمع شغالي-
شغالے:(ش-غا-لے)اسم- (۱)دَ اوبن يو قسم- (۲)يو قسم ټوپک او د هغې کارتوس- جمع شغالي-
شغب:(ش-غب)اسم- فرياد- شور- فساد- (م- عربي)-
شغرب:(شغ-رب)اسم- (۱)مشرق- نمرخاته- ختيځ- (۲)لرې ځاۍ-
شغرغ:(شغ-رغ)اسم صفت- شرير- شيطان- فسادي- وران-
شغف:(ش-غف)اسم- محبت- شوق- اشتياق- (م- عربي)-
شغکه:(ش-غه-که)اسم- واحد- مؤنث- ازغے- لشه- جمع شغکي-
شغل:(ش-غل)اسم- مصروفيت- کار- (م- عربي)-
شغلبه:(شغ-له-به)اسم- واحد- مؤنث- غلبله- شور- کوکاره-
شغله:(شغ-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ شعله-
شغول:(ش-غول)اسم- واحد- مؤنث- خرخره- کراره- هغه آله چې دَ اَس دَ کرولو دَ پاره پکاروله شي-
شغول:(شه-غه-ول)مصدر- غرول- په تېزه ګوزارول- لهٔ څهٔ څيزه د شغ شغ اواز ايستل-
شغولے:(شه-غه-وه-لے)اسم مفعول- جمع شغولي- مؤنث شغولې- وګورئ شغول-
شغون:(شه-غه-ون)حاصل مصدر- وګورئ شغول-
شغونکے:(شه-غه-ون-کے)اسم فاعل- جمع شغونکي- مؤنث شغونکې- وګورئ شغول-
شغونګ:(شه-غه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ شغول-
شغونه:(شه-غه-وه-نه)حاصل مصدر- وګورئ شغول-
شغېدل:(شه-غې-دل)مصدر لازم- لهٔ يو څيزه دَ شغ شغ اواز ويستلے کېدل- شغارے کول- پهٔ تېزه راګوزارېدل- ورغوټه کېدل-
شغېدلے:(شه-غې-ده-لے)اسم مفعول- جمع شغېدلي- مؤنث شغېدلې- وګورئ شغېدل-
شغېدن:(شه-غې-دن)حاصل مصدر- وګورئ شغېدل-
شغېدنګ:(شه-غې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ شغېدل-

شغېدونکے:(شه-غې-دون-کے)اسم فاعل- جمع شغېدونکي- مؤنث شغېدونکې- وګورئ شغېدل-
شغېدهٔ:(شه-غې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ شغېدل-
شغهار:(شه-غه-هار)اسم صوت- دَ شغ شغ اواز-
شفا:(شه-فا)اسم- رغېدنه- روغېدنه- صحت- تندرستي- (م- عربي)-
شفاخانه:(شه-فا-خا-نه)اسم- واحد- مؤنث- دَ علاج ځاۍ- مسهتال- روغتون-
شفاعت:(ش-فا-عت)اسم- شفارش- دَ ګناهونو دَ معافي شفارش چې دَ رسول کريم عليه السّلام سره مخصوص دے- (م- عربي)-
شفاف:(ش-فاف)اسم صفت- ډېر زيات سپين- ډېر صفا- روڼ- ځلېدونکے- هغه څيز چې رڼا ترې پورې راپورې ووځي-
شفائي:(ش-فا-ئي)اسم- جوړېدنه- دَ شفا سره متعلق- (م- عربي)-
شفتالو:(شه-فه-تا-لو)اسم- واحد- مذکر- يوه وُنه او دَ هغې ميوه- شلتالو- نباتاتي نوم پرونس ډوميسټيکا (PRUNUS DOMESTICA)-
شفتل:(شه-فه-تل)اسم- شوتل- يو قسم واښهٔ چې څاروو ته ورکوله شي- نباتاتي نوم ټرائي فوليئم ريپنز (TRIFOLIUM REPENS)-
شفق:(شه-فق)اسم- واحد- مذکر- دَ سحر او نماښام پهٔ وخت کښې پهٔ افق ښکاره کېدونکې سُرخي- (م- عربي)-
شفقت:(شه-فه-قت)اسم- مينه- محبت- مهرباني- رحم- (م- عربي)-
شفعه:(ش-فه)اسم- واحد- مؤنث- شُفعه- دَ اسلامي قانون مطابق هغه حق چې دَ کور يا زمکې پهٔ خرڅولو دَ ګاونډ يا شرکت پهٔ وجه حاصليږي- (م- عربي)-
شفيع:(شه-فيع)اسم صفت- شفاعت کونکے- (م- عربي)-
شفيق:(شه-فيق)اسم صفت- مهربانه- مهرباني کونکے- همدرد- رحمدل- (م- عربي)-
شق:(شق)اسم- شلېدنه- ماتېدنه- چودنه- (م- عربي)-
شقي:(شه-قي)اسم صفت- بدبخت- بدنصيب- (م- عربي)-
شک:(شک)اسم- واحد- مذکر- ګومان- شبه- (م- عربي)-
شکارل:(شکا-رل)مصدر- سهے ندکارل- رغبت ورکول- تحريک ورکول- سهي ته د حملې کولو د پاره شش شش کول- ششکارل- کيشکارل-
شکارلے:(شکا-ره-لے)اسم مفعول- جمع شکارلي- مؤنث شکارلې- وګورئ شکارل-
شکارن:(شکا-رن)حاصل مصدر- وګورئ شکارل-
شکارنګ:(شکا-رنګ)حاصل مصدر- وګورئ شکارل-
شکارنه:(شکا-ره-نه)حاصل مصدر- وګورئ شکارل-
شکارونکے:(شکا-رون-کے)اسم فاعل- جمع شکارونکي- مؤنث شکارونکې- وګورئ شکارل-
شکال:(شکال)اسم- (۱)دَ څاروی پښو ته پړے اچونه- (۲)چنال- شغال- ګيدړ-

زور:(خ-بهٔ-ره)، زورکے:(شل)، پېښ:(نو-کا-ره)، زور:(ک-تاب)، جزم:(شکوې)، ۃ:(ر-په)، ۂ:(پو-ښې-دهٔ)

www pukhto net

شکاڼ:(شکاڼ)اسم- واحد- مذکر- شکوڼ- یو ځناور چې په بدن یې تېرۀ تېرۀ غشي وي- (ش- انګریزي- شېکل)-

شکاؤتاتی:(شکاؤ-تا-تي)اسم- واحد- مؤنث- شمشتی- شکرتانې- کومی- کشب- شکاؤتی- کاسه ګرب- کیشپ- کېشوه- کېشو- د اوږدې غړانګې لرونکې یو ابی ځناور-

شکاؤتی:(ش-کاؤ-تي)اسم- وګورئ شکاؤتاتی-

شکایت:(ش-کا-يت)اسم- واحد- مذکر- ګیله- شکوه- جمع شکایتونه- (م- عربي)-

شک دار:(شک-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- شک مَن- ګوماني- جمع شک داران-

شکر:(ش-کُر)اسم- واحد- مذکر- (۱)د ځۀ نېکۍ په بدل کښې د خپل محسن د احسان یادونه- (۲)شکریه- مهرباني- جمع شکرونه-

شکر:(ش-کَر)اسم- واحد- مذکر- (۱)چیني- (۲)خواږۀ- (ش- فارسي)-

شکرانه:(شُک-را-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)شکر ګزاري- (۲)منښته ورکونه- نذرانه- (۳)خېرات- (۴)د یو کار مزدوري- جمع شکرانې-

شکرباز:(ش-کَر-باز)اسم صفت- (۱)شکرې وروژنکې- (۲)خوږ- خوږه- (ش- فارسي)-

شکربتی:(ش-کَر-به-تي)اسم- واحد- مؤنث- بتی- اُربشې چې په ښخرې کښې زوې کړې شي- بیا یې لکه د شولو رېکوی او د وریژو په شان یې پخوی- اوګره ترې هم پخېږي-

شکرپاره:(ش-کَر-پا-ره)اسم- مؤنث- یو قسم خواږۀ چې د مېدې او چینو نه جوړولې شي او په غوړو کښې سرۀ کولې شي-

شکرترې:(ش-کَر-ته-رې)اسم- ترې- سپین چیني- سپین ترې- سپینه چیني- سپیی ترې- بوره-

شکرخند:(ش-کَر-خند)اسم- واحد- مؤنث- د ناز خندا- خوږه خندا-

شک رک:(شک-رک)اسم- (۱)شک ورکول- خیال وګومان- بېخي درک نۀ لګېدنه- (۲)شُد بُد- (۳)صفت- خبردار- اګاه-

شکرکه:(شُک-ره-که)اسم- واحد- مؤنث- لويې پاڼې لرونکې یوه غرنېزه ونه- جمع شکرکې-

شکررنجي:(ش-کَر-رن-جي)اسم- مؤنث- خفګان- هغه خفګان چې کینه پکښې نۀ پیدا کېږي-

شکرکنې:(ش-کَر-که-نې)اسم- واحد- مذکر- (۱)کنې- (۲)د مېو پومبکې- د شاتو د مچیو کور- ګبین- د نباتاتي نوم د پاره وګورئ کنې-

شکرګزار:(ش-کُر-ګو-زار)اسم صفت- نېکي منونکې- احسان منونکې- وګورئ احسان مَن-

شکرلب:(ش-کَر-لب)اسم صفت- واحد- مذکر- د خوږو شونډو خاوند- محبوب- معشوق- (م- فارسي)-

شکرتانې:(ش-کَر-تا-نې)اسم- واحد- مذکر- وګورئ شکاؤتاتی-

شکره:(شُک-ره)اسم صفت- واحد- مذکر- په عقل تېز او چالاک ماشوم-

شکره:(شه-کَ-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د ګړې چوره- مېده کوره- (۲)ترې- خوږنکې چیني- (۳)یو ښکاروونکې مارغۀ- اشکره- (۴)د یو ګل نامه-

شکریه:(شُک-ري-يه)اسم- واحد- مؤنث- شکر- تشکر- مهرباني- د چا د مهرباني او احسان شکر اداکونه- جمع شکریې-

شکري:(شکه-ري)اسم- واحد جمع- مؤنث- لۀ مېزرې جوړه ټوکرې-

شکرې:(شُک-رې)اسم- واحد- مذکر- شیکرې- یو ښکار کوونکې مارغۀ- جمع شکري-

شکرې:(شُک-رې)اسم- واحد- مذکر- لۀ مېزرې جوړ شکور- جمع شکري-

شکست:(ش-کَست)اسم- واحد- مذکر- تښتېدنه- مېدان پرېښودنه- ماتې- بېلات- جمع شکستونه- (م- فارسي)-

شکسته:(ش-کس-ته)اسم صفت- (۱)شلېدلې- (۲)مات- (۳)کمزورې- (م- فارسي)-

شکشکه:(شک-شه-که)اسم- واحد- مؤنث- چکچکانې- د ماشومانو د پېغلو لوبه- (افغانستان)-

شکل:(شه-کل)اسم- واحد- مذکر- (۱)مخ- صورت- څېره- (۲)وېدر- پلواکه- عزومه-

شکلی:(شک-لي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)شمله- (۲)د دستار څنډې-

شکم:(ش-کَم)اسم- واحد- مذکر- ګېډه- خېټه- نس- تاړ- (م- فارسي)-

شکمپاره:(ش-کم-پا-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)یوه مشهوره دوائي- سپغول- (۲)د نوو تپرغو فاصله- جمع شکمپارې- (افغانستان)-

شکمن:(شک-مَن)اسم صفت- ګومان کونکې- ګوماني- شکمند- شکي- شک کونکې- (م- فارسي)-

شکمند:(شک-مَند)اسم صفت- وګورئ شکمن-

شکن:(ش-کَن)اسم صفت- ماتونکې- تباه کونکې- په مرکباتو کښې د لاحقې په توګه استعمالېږي- لکه بت شکن-

شکنبه:(شکَن-به)اسم- واحد- مؤنث- د پېغلو یوه لوبه- خند- جمع شکنبې-

شکنجه:(شکن-جه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)سکنجه- (۲)پانه- (۳)لومه- پنجره-

شکنجي:(شکن-جي)اسم- واحد- مؤنث- یوه دانه چې عام طور سره په ترخ کښې یا په پټون راخیژي-

شکندر:(ش-کَن-در)اسم- واحد- مذکر- د کېږدې درد- (افغانستان)-

شکنده:(شکَن-ده)اسم- واحد- مؤنث- د ماشومانو یوه لوبه-

شکنه:(شکَ-نه)اسم- واحد- مؤنث- ساړه تودۀ- صحبت- شریکه روټۍ- (۲)د پیازو ښوروا چې اکثر رنځورانو ته ورکولې شي- جمع شکنې-

شکنبه:(شکَ-نبه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د شکوڼ ماده- (۲)اشتره ښځه-

شکور:(شکور)اسم- واحد- مذکر- وګورئ شکرې-

شکور:(شکور)اسم- واحد- مذکر- د ملکانو یو قسم لوبه-

شک ورک:(ش-کو-رک)اسم- بې خبري او ناکامي- دا توری عام طور سره

ی (... ... ې (هې-ره-وَل)- ی(یپا-لي)- ې(ته-ې) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

دَ لاعلمۍ او بې خبرۍ دَ پاره استعمالولے شي۔ مشکوک علم۔ وګورئ شک رک۔
شکورے:(شکو-رے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ شکرے۔ شکور۔ جمع شکوري۔
شکول:(شکه-ول)مصدر۔ (۱)شوکول۔ شلول۔ څيرې کول۔ بڅه کول۔ (۲)لوټول۔ دَ چا نه مال، کالي وغيره اخستل۔ (۳)راجډا۔ رابيلول۔
شکول:(شه-که-ول)مصدر۔ د بېبيو ودرول۔ لکول۔ نېغول۔
شکولے:(شکه-ولے)اسم مفعول۔ جمع شکولي۔ مؤنث شکولې۔ وګورئ شکول۔
شکولے:(شه-که-ولے)اسم مفعول۔ جمع شکولي۔ مؤنث شکولې۔ وګورئ شکول۔
شکون:(شکه-ون)حاصل مصدر۔ وګورئ شکول۔
شکون:(شه-که-ون)حاصل مصدر۔ وګورئ شکول۔
شکونکے:(شکه-ون-کے)اسم فاعل۔ جمع شکونکي۔ مؤنث شکونکې۔ وګورئ شکول۔
شکونکے:(شه-که-ون-کے)اسم فاعل۔ جمع شکونکي۔ مؤنث شکونکې۔ وګورئ شکول۔
شکونګ:(شکه-ونګ)حاصل مصدر۔ وګورئ شکول۔
شکونګ:(شه-که-ونګ)حاصل مصدر۔ وګورئ شکول۔
شکونه:(شکه-ونه)حاصل مصدر۔ وګورئ شکول۔
شکونه:(شه-که-ونه)حاصل مصدر۔ وګورئ شکول۔
شکونے:(شکه-ونے)اسم فاعل۔ جمع شکوني۔ مؤنث شکونې۔ وګورئ شکول۔
شکونے:(شه-که-ونے)اسم فاعل۔ جمع شکوني۔ مؤنث شکونې۔ وګورئ شکول۔
شکوڼ:(شکوڼ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ يو خناور چې په بدن کښې ئې غشي وي او دَ خطرې په وخت ترې کار اخلي۔ خارپشت۔ خارپښت۔
شکوه:(شکوه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ ګله۔ ګيله۔ شکايت۔ (م۔ فارسي)۔
شکوه:(ش-کوه)اسم۔ رعب۔ دبدبه۔ شان۔ دباب۔ پرتم۔ (م۔ فارسي)۔
شکي:(شه-کي)اسم صفت۔ شک کونکے۔ ګومان کونکے۔ (م۔ فارسي)۔
شکيه:(ش-کي-يه)صفت۔ دَ شک۔ شک څرګندونکے۔ دَ ګومان۔
شکېب:(شه-کېب)اسم۔ زغم۔ صبر۔ (م۔ فارسي)۔
شکېبا:(شه-کې-با)اسم صفت۔ صبر کونکے۔ صابر۔ (م۔ فارسي)۔
شکېبائي:(شه-کې-با-ئي)اسم۔ زغم۔ صبر۔ (م۔ فارسي)۔
شکېدل:(شکې-دل)مصدر۔ شوکېدل۔ پربکړے کېدل۔ څيرې کېدل۔ تار تار کېدل۔
شکېدل:(شه-کې-دل)مصدر۔ د بېبيو ودرېدل۔
شکېدن:(شکې-دن)حاصل مصدر۔ وګورئ شکېدل۔
شکېدن:(شه-کې-دن)حاصل مصدر۔ وګورئ شکېدل۔
شکېدنګ:(شکې-دنګ)حاصل مصدر۔ وګورئ شکېدل۔
شکېدنګ:(شه-کې-دنګ)حاصل مصدر۔ وګورئ شکېدل۔
شکېدنه:(شکې-دنه)حاصل مصدر۔ وګورئ شکېدل۔
شکېدنه:(شه-کې-دنه)حاصل مصدر۔ وګورئ شکېدل۔
شکېدونکے:(شکې-دون-کے)اسم فاعل۔ جمع شکېدونکي۔ مؤنث شکېدونکې۔ وګورئ شکېدل۔
شکېدونکے:(شه-کې-دون-کے)اسم فاعل۔ جمع شکېدونکي۔ مؤنث شکېدونکې۔ وګورئ شکېدل۔
شکېدهٔ:(شکې-دهٔ)حاصل مصدر۔ وګورئ شکېدل۔
شکېدهٔ:(شه-کې-دهٔ)حاصل مصدر۔ وګورئ شکېدل۔
شکېزه:(شکې-زه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ اڅکېزه۔ ټېزه۔ ټينزه۔
شکېلل:(شکې-لل)مصدر۔ سېښته ودرول۔ بېبۍ رغړول۔ بېبۍ اچول۔ (افغانستان)۔
شکېللے:(شکې-للے)اسم مفعول۔ وګورئ شکېلل۔
شکېلندر:(شکې-لن-در)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)مرنکه۔ ټيق۔ ټيک۔ ارغه۔ ارغند۔ ارغوند۔ (۲)عته سېښته۔ عته بېبله۔
شکېلنه:(شکې-لنه)حاصل مصدر۔ وګورئ شکېلل۔
شکېلونکے:(شکې-لون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ شکېلل۔
شکېلے:(شکې-لے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ شېلک (۱)۔
شکاره:(شه-کاره)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ بلاربه ښځه۔
شکاف:(ش-کاف)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ چوړ۔ چاود۔ درز۔ (م۔ فارسي)۔
شکرۍ:(شه-کرۍ)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱) دَ خاورينو لوښيو دَ جوړولو آله۔ (۲)هغه نجه چې په ټوپک کښې پرې باروډ وکولے شي۔
شګفته:(شه-ګفته)اسم صفت۔ غوړېدلے۔ (م۔ فارسي)۔
شکلن:(شک-لن)اسم صفت۔ شکن۔ دَ شکو جوړ۔ شګه لرونکے۔ شکلوړې۔ مؤنث شکلنه۔
شکلوړی:(شک-لو-ړي)اسم صفت۔ وګورئ شکلن۔
شکلونے:(شه-که-لو-نے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دَ انسان لنډه۔ دَ ملا لانديني حصه۔
شکمامے:(شک-ما-مے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ سمسره۔ جمع شکماميان۔
شکموجے:(شک-مو-جے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ رېګمال۔ (افغانستان)۔
شکن:(شه-کن)اسم صفت۔ وګورئ شکلن۔ مؤنث شکنه۔ جمع مؤنث شکنې۔
شکنه:(شه-که-نه)اسم صفت۔ مؤنث۔ وګورئ شکن۔
شکوېه:(شه-کو-ېه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ ارتياکه۔ دَ ټوټو او درغو ځمره۔ پوزه۔
شکوفه:(شه-کو-فه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ دَ ګل کلی۔ غټی۔
شکوم:(ش-کوم)اسم صفت۔ (۱)ګوم سوم۔ چپ چاپ۔ خاموش۔ (۲)بې خبره۔ په څهٔ نهٔ پوهېدونکے۔
شګون:(شه-ګون)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ فال۔ پېش خبرې۔ نېک فال۔ پال۔ (م۔ فارسي)۔

زبر"(ج-بـه-سره)، "زورکے"(شل)، "پېښ"(نو-ګکا-سره)، "زېر"(ک-تاب)، "جزم"(شکوڼ)، "ه"(ز-ړه)، "ۀ"(ړو-سبي-دهٔ)

www.pukhto.net

شکه:(شَ-کَه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ کاڼي دَ انتهائي ورو ورو زرو مجموعه- ریګ- وږه-

شګیرنے:(ش-ګیر-نے)اسم- واحد- مذکر- پومبکے-

شګنَ:(شَ-ګَی)اسم صفت- مؤنث- (۱)شګلنه زمکه- شګلورې زمکه- شګلبنه- (۲)هغه ځایَ چې خوړ پرې تېر شوے وی او شګه يِ پرېښې وی- (۳)ابرق- شګوګل-

شګی ګُل:(شَ-ګی-ګُل)اسم- دَ ابرق کاڼے- بکری- شګے ګل-

شګے ګل:(شَ-ګے-ګل)اسم- وګورئ شګی ګل- شل:(شَل)اسم عدد- د نولسو او یوویشتو تر مینځه عدد- (۲۰)-

شل:(شَل)اسم صفت- (۱)هغه انسان یا ځناور چې لاسونه پښې يِ بېکاره وی- ګوزنی- (۲)بنجر- للمه- چې زرغونه نهٔ کوی-

شل:(شَل)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه پسهٔ (ګډ) چې دَ مړی کور ته دَ خپلوانو لهٔ خوا دَ هدیٰ پهٔ ډول ورکولے شی- هدیه- (۲)پوری- زینه- اندرپایه- (۳)حرکت- خوزېدنه- (افغانستان)-

شل:(شَل)اسم- واحد- مذکر- (۱)نېزه- برچی- هغه توره شلن چې سر يِ تېرهٔ او غُټ وتلے وی- خنجر- شلګے- (۲- صفت)مغرور-

شلاته:(شَ-لا-ته)اسم- مؤنث- بیم- مونږه- خرند- خند- لنبک- دَ لوخي بېخ- د ویلې بېخ-

شلاخ:(شَ-لاخ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ شلاق-

شلاغ:(شَ-لاغ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ شلاق-

شلاغونه:(شَ-لا-غو-نه)اسم- پهٔ ګټو خبرې کونه- ګپکونه پهٔ خبرو کښې مخکښې مخکښې کونه-

شلاق:(شَ-لاق)اسم- (۱)شلاخ- شلاغ- چابک- تراټ- ترټ- (۲)شرک-

شلامیر:(شَلا-میر)اسم- واحد- مذکر- دَ ماشومانو یوه لوبه- الله داد-

شلانته:(شَلان-ته)اسم- واحد- مؤنث- سمسره- مسپره- دَ کربوړی پهٔ شکل یو ځناور چې تیل (وازده) يِ دَ مالش پهٔ دارو کښې پکارولے شی- شلانه- جمع شلانتې-

شلانه:(شَلان-ه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خادمې- خادمه- سمسره- سلانته- شلانته- (۲)چیندخ-

شلانګ:(شه-لانګ)اسم- واحد- مذکر- (۱) توپ- ټوپ وهنه- (۲)شلنګ-

شلاڼه:(شلا-ڼه)اسم- مؤنث- شلانته- شلانه- سمسره-

شلانے:(شَلا-نے)اسم- واحد- مذکر- دَ سمسرې پهٔ شان خو سمسری نه لږ وړوکے یو ځناور چې تیل يِ ځینو مرضونو له پکارولے شی- وګورئ شلانته-

شلاونو:(شَلا-ونو)اسم- هغه جرمانه چې پهٔ قبیله یا خاندان تقسیم کړے شی- بسپنه- انداز- نوجی- اجاره- شلاوڼ- (افغانستان)-

شلاوڼ:(شَلا-وڼ)اسم- وګورئ شلاونو-

شلبر:(شَل-بَر)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)شلک- ځیګ رخته- ځیګه ځیګه کېږه- شوله کېږه- (۲)بې ترتیبه موټلے شوے څیز- (۳)عجیبه-

شلاوه:(شلا-وه)اسم- واحد- مؤنث- یوه لبی ګیاه- د ایو واښهٔ-

شلبلارے:(شَل-بلا-رے)اسم صفت- هغه څوک چې نسل يِ معلوم نهٔ وی- حرامی- کم اصل-

شلت:(شلت)اسم صفت- سست- بېکاره- آرام خوښونکے- لټ- ناراسته- کاږے واږے- ستړے ستوماته- نس- شلټه-

شلتالو:(شَل-تا-لو)اسم- واحد- مذکر- شفتالو- یو قسم مېوه- نباتاتی نوم ... وګورئ شفتالو-

شلته:(شَل-ته)اسم- مؤنث- (۱)مملمه- (۲)ممیانی- امیانی- بیدږه- (م- فارسی)-

شلتې:(شَلِ-ختې)اسم- جمع- مؤنث- (۱) هغه اربشې چې لا دَ پوستکی نه راوتې نهٔ وی- (۲)ناسپېنې کړی اربشې-

شلت:(شلت)اسم صفت- شلت- نادرست- کامل- (۲)اومړی- پوست- اومړی- امری-

شلبه:(شَل-به)اسم- مؤنث- کشتی- بېړی- پوراوړه ښځه-

شلحاتی:(شَ-لحه-حا-تی)اسم- د ورو ماشومانو یوه لوبه- ایرې بېرې- هواری- شلغاتی-

شلخته:(شَ-لخ-ته)اسم صفت- بې حیا ښځه-

شلخو:(شَل-خو)اسم- واحد- مذکر- شلخے ټوپک- کارتوس- دره وال ټوپک-

شلخورکه:(شَل-خو-ر-که)اسم- مؤنث- سمسره- سانپه- سمسارہ-

شلخے:(شَل-خے)اسم- واحد- مذکر- دیسی ټوپک- بنلوټی څیز- دیسی- نقلی څیز-

شلخے:(شَل-خے)اسم- واحد- مذکر- چلخے- یو بوټے چې دَ غوا دَ ژبې پهٔ شان ورډې ورډې پاڼې نیسی غاروی يِ هم خوری او دَ ساګ پهٔ شان پخولے شی- ګاوزبان-

شلدانه:(شَل-دا-نه)اسم- مؤنث- دَ موطرو امپل-

شل شلی:(شَل-شَ-لی)اسم عدد- مؤنث- څلور سوه- (۴۰۰)-

شلغاتی:(شَ-له-غا-تی)اسم- وګورئ شلحاتی-

شلغت:(شَل-غَت)اسم صفت- بې دوله- بدنمکه- بدقولره- بدشکله-

شلغمے:(شَ-له-غَ-مے)اسم- وګورئ شرغمے-

شلغم:(شَل-غم)اسم- مذکر- ټیپر- بنګری- منګرېټے- یو قسم سبزی- نباتاتی نوم براسیکا ریپا BRASSICA RAPA-

شلق:(شلق)اسم- (۱)وګورئ شلک- (۲)ګوزار- آسمانی تندر- شرق- چرق-

شلک:(شلک)اسم- (۱)دَ ګولو مسلسل آواز- (۲)فوجی سلامی- (۳)ناپاکې اربشې- (م- فارسی)-

شلک:(شلک)اسم- هغه کېږه چې نرۍ او مهینه نهٔ وی-

شلکه:(شَ-له-که)اسم صفت- ناراستی- سستی- شلکی-

شلکی:(شَ-له-کی)اسم صفت- وګورئ شلکه-

www.pukhto.net

شلکے:(شَل-کے)اسم- واحد- مذکر- دَ دستار څنډے یا جیغه- شمله- ترتره-

شَلګ:(شه-لګ)اسم صفت- (۱)شپول پټوکے- (۲)شار- شول- پېر کلک-

شلګتے:(شَل-ګَ-تے)صفت- دَ ماشومانو په اصطلاح انسان- شل ګټي لرونکے-

شل ګټي:(شَل-ګټ)اسم مرکب- په لاس پښو معذور-

شلکره:(شَله-کَره)اسم- مؤنث- جړی- پرله پسې باران- دَ ژمی تر مخې یا زیاتي موده پورې متواتر باران- دَ یخنی باران-

شلګون:(شَل-ګون)صفت- (۱)دَ شلو سره متعلق- شلګونی- (۲- اسم)دَ شلو روپو نوټ- (افغانستان)-

شلکومه:(شَل-کو-مه)اسم- وګوری: پونه-

شلګونے:(شَل-ګو-نے)صفت عددی- وګوری: شلګون-

شلکه:(شَل-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ غنمو دَ وږی لشه- (۲)بوس- دَ غنمو دَ غوبل کولو نه پس چې دانه بیله شی او دَ غنمو بوټي او پلے چورې چورې شی هغه بیا دَ څاروو دَ ګیاه په توګه هم ورکېدے شی او په خټو کښې هم استعمالولے شی-

شلکے:(شَل-کے)اسم- دَ شل نه اسم تصغیر- (۱)بلم- دَ شل نه وړوکے چې تېزه او نرۍ څوکه يې وی- (۲)وړوکے تبر چې ملنګان يې ځان سره ګرځوی- (افغانستان)-

شلکۍ:(شَل-کۍ)اسم- مؤنث- (۱)وړوکے تاخ- طاقچه- (۲)پېوټ-

شللو:(شَ-لَه-لو)اسم- کم عمر لرونکې وړه ښوروا- (افغانستان)-

شلم:(شَلم)صفت- (۱)سُست- اَرجل برجل- (۲)ښتے- (۳)دَ کلک ضد-

شلم:(شه-لَم)صفت- عددی صفت چې دَ نولسم او یوویشتم تر مینځ درجه ښي-

شلم خپتے:(شَلم-خپ-تے)اسم صفت- خاپوړن- سسته او نرمه ګېډه لرونکے-

شلمدنه:(شَ-لَم-دَ-نه)اسم- مؤنث- دَ یوه نبات ستنه چې په دوایی کښې پکارولے شی- رَنبے- روے- یونانی طبی اصطلاح کښې ورته ثعلب مصری ونېلے شی- (افغانستان)-

شلمول:(شَله-مه-وَل)مصدرِ متعدی- شړمول- بې پوله کول- بې جوړه کول- سستول- درنول-

شلمون:(شَله-مه-وَن)حاصلِ مصدر- وګوری: شلمول-

شلمونکے:(شَله-مه-ون-کے)اسمِ فاعل- وګوری: شلمول-

شلمونګ:(شَله-مه-ونګ)حاصلِ مصدر- وګوری: شلمول-

شلمونه:(شَله-مه-وَنه)حاصلِ مصدر- وګوری: شلمول-

شلمېدل:(شَله-مې-دَل)مصدرِ لازم- غښېدل- شړمېدل- بې جوړه کېدل- بې پوله کېدل- سستېدل-

شلمېدن:(شَله-مې-دَن)حاصلِ مصدر- وګوری: شلمېدل-

شلمېدنګ:(شَله-مې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګوری: شلمېدل-

شلمېدنه:(شَله-مې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګوری: شلمېدل-

شلمېدونکے:(شَله-مې-دون-کے)اسمِ فاعل- وګوری: شلمېدل-

شلمېده:(شَله-مې-دَه)حاصلِ مصدر- وګوری: شلمېدل-

شلند:(شَلند)صفت- مذکر- غټ- تازه- څرب- غټ پټ- تیار-

شلنډتوب:(شَلنډ-توب)اسم- واحد- مذکر- څربښت- مضبوط والے- غټ والے-

شلنډتیا:(شَلنډ-تیا)اسم- مؤنث- وګوری: شلنډتوب-

شلنډول:(شَلن-ډه-وَل)مصدرِ متعدی- څربول- غټول-

شلنډون:(شَلن-ډه-وَن)حاصلِ مصدر- وګوری: شلنډول-

شلنډون:(شَلن-ډون-)اسم- وګوری: شلنډول-

شلنډونکے:(شَلن-ډه-ون-کے)اسمِ فاعل- جمع شلنډونکی- مؤنث شلنډونکې- وګوری: شلنډول-

شلنډونګ:(شَلن-ډه-ونګ)حاصلِ مصدر- وګوری: شلنډول-

شلنډونه:(شَلن-ډه-وَنه)حاصلِ مصدر- وګوری: شلنډول-

شلنډه:(شَلن-ډه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)شلانډه- خامي- څمڅره- سمسره- (۲- صفت)دَ شلنډ مؤنث-

شلنډېدل:(شَلن-ډې-دَل)مصدر- څربېدل- غټېدل-

شلنډېدن:(شَلن-ډې-دَن)حاصلِ مصدر- وګوری: شلنډېدل-

شلنډېدنګ:(شَلن-ډې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګوری: شلنډېدل-

شلنډېدنه:(شَلن-ډې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګوری: شلنډېدل-

شلنډېدونکے:(شَلن-ډې-دون-کے)اسمِ فاعل- جمع شلنډېدونکی- مؤنث شلنډېدونکې- وګوری: شلنډېدل-

شلنډېده:(شَلن-ډې-دَه)حاصلِ مصدر- وګوری: شلنډېدل-

شلنګ:(شِ-لنګ)اسم- واحد- مذکر- دَ برطانیې دَ یوې سکې نوم- دَ پونډ شلمه حصه- جمع شلنګونه- (م- انګریزی)-

شلنګ:(شِ-لنګ)اسم- واحد- مذکر- هغه تسمه چې ټوپک ته دَ څوړندولو او غاړه کښې دَ اچولو دَ پاره اچولے شی-

شلوانۍ:(شَل-وا-نۍ)اسم- واحد- مؤنث- یوه غرنیزه مېوه-

شل وشوت:(شَ-لو-شوت)اسم صفت- شل ګټ- دَ کاره وتے- شول وشل-

شلول:(شَله-وَل)مصدر- بڼه کول- ګیرې کول-

شلولے:(شَله-وَلے)اسمِ مفعول- جمع شلولی- مؤنث شلولې- وګوری: شلول-

شلوم:(شَلوم)اسم- دَ کچو دَ ویلی کولو نه پاتې خیرے-

شلومباون:(شَلوم-با-ون)اسم- دَ قروتو تبلی- هغه ککوړه چې شوملې پکښې دَ دې دَ پاره اچولے شی چې اُبه تري وبهیږی او چکه يې لاندې پاتې شی-

شلومبکه:(شَلوم-به-که)اسم- واحد- مؤنث- پرې پرې او شین والی ته مائلې پلنې پاڼې لرونکے یو قسم بوټے- جمع شلومبکې-

شلومبل:(شَلوم-بَل)مصدر- شوملې کول- شاربل-

ضرابخانه:(ض-راب-خا-نه)اسم- واحد- مؤنث- ټکسال- د سکو جوړولو ځای- دَ پیسو جوړولو ځای-

ضرب:(ض-رب)اسم- واحد- مذکر- (۱)وار- ګوزار- (۲)زخم- ټپ- (۲)د حساب د علم یوه قاعده-

ضرب المثل:(ضر-بل-م-ثل) متل- دَ مثال په شان-

ضربول:(ضر-ب-ول)مصدر متعدی- دَ حساب په قاعده کښې ضرب ورکول-

ضربه:(ضر-به)اسم- واحد- مؤنث- ګوزار- ګزار- حمله- وار- مټې (کول مصدر -

ضرر:(ض-رر)اسم- واحد- مذکر- نقصان- تاوان- تکلیف- اذیت-

ضررناک:(ض-رر-ناک)اسم صفت- واحد- مذکر- خطرناک- ضرر رسونکے- ضرری-

ضرری:(ض-ر-ری)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ ضررناک-

ضرغام:(ضر-غام)اسم- واحد- مذکر- زمریے- مزریے- متزریے- شېر-

ضرور:(ض-رور)متعلق فعل- خامخا- په یقین سره- ارومرو-

ضرورت:(ض-رو-رت)اسم- واحد- مذکر- حاجت- احتیاج-

ضروری:(ض-رو-ری)اسم- واحد- مذکر مؤنث- خامخا-

ضریر:(ض-رير)اسم صفت- واحد- مذکر- نابینا- ړوند-

ضریع:(ض-ريع)اسم صفت- واحد- مذکر- تریخ- زقوم- تریخ او بدبویه یو قسم ګیاه چې د سیند په غاړه پوکیږی-

ضعف:(ضعف)اسم- واحد- مذکر- کمزوری- ناتوانی- بوډاتوب- کم علمی- جاهلیت-

ضعیف:(ض-عيف)صفت- کمزورے- ناتوان- بوډا- کم علمه- جاهل-

ضلالت:(ض-لا-لت)اسم- واحد- مذکر- ګمراهی- بې لاروی-

ضلع:(ضل-عه)اسم- واحد- مؤنث- دَ صوبې یوه حصه-

ضلع خارج:(ضل-عه-خا-رج)اسم صفت- واحد- مذکر- ضلع بدر- د ضلعې نه شړلے شوے- ایستلے شوے-

ضلع دار:(ضل-عه-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- د یوې خور دَ محکمې منتظم- انتظام کونکے-

ضم:(ضم)صفت- واحد- مذکر- یوځای شوے- نښلولے شوے- ورتپلے شوے-

ئ" (ئي-رل)، ي"(مي-رمـ-ول)، ی"(یهـا-لي)، ے"(تن-سد-يې) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

پيوست شوي- پيوند شوي-

ضماد:(ض-ماد)اسم- لېونل- دوائي چې ابو کېنې يو ځای کونه- او په بدن پوري کونه- پټی کونه-

ضمان:(ض-مان)اسم- واحد- مذکر- ضمانت- ذمه واري اخستنه- لاس ورکونه-

ضمانت:(ض-ما-نت)اسم- واحد- مذکر- ذمه واري- ذمه اخستنه- ضمان-

ضمائر:(ض-ما-ئر)اسم- جمع- مذکر- د ضمير جمع- ضميرونه-

ضمن:(ض-من)اسم- واحد- مذکر- (۱)لړ- بابت- حلقه- سلسله- (۲)سره کېدنه- شموليت- شاملېدنه- شرکت-

ضمناً:(ضم-نن)متعلق فعل- په حلقه- په بابله- په لړ کښې- په سلسله کښې-

ضمني:(ضم-ني)اسم صفت- د ضمن سره متعلق- د ضمن سره منسوب-

ضمه:(ض-مه)اسم- واحد- مؤنث- ( ) پېښ- د پېښ حرکت- ضم-

ضمير:(ض-مير)اسم- واحد- مذکر- (۱)د انسان دننه پټ صحيح فيصله کونکې يو روحاني قوت - جمع ضميرونه/ضمائر- (۲)هغه لفظ چې د اسم په ځای استعمالولے کېږي-

ضميران:(ض-مي-ران)اسم- واحد- مذکر- کشمالو- کشمالے- ريحان- يو خوشبودار بوټے- نباتاتي نوم وسيمم بيسيليکم OCIMUM BASILICUM-

ضميمه:(ض-مي-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)زياتي لګولے شوے څيز- سېوا کړے شوے څيز- اضافي- (۲)هغه حصه چې د اصل څيز د پوره کېدو نه پس زياته کړے شي- د اخبار هغه اشاعت چې د مقرره اشاعت نه علاوه د خاص ضرورت په وجه وکړے شي-

ضوابط:(ض-وا-بط)اسم- جمع- مذکر- قواعد- دستور- طريقې- د ضابطې جمع-

ضوطول:(ضو-طه-ول)مصدر متعدي- يادول- شمېرل- د خيالاتو احاطه کول- په ياد کښې راوستل- منتر کول-

ضوطون:(ضو-طه-ون)حاصل مصدر- وګوري ضوطول-

ضوطونکے:(ضو-طه-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ضوطونکي- مؤنث ضوطونکې- وګوري ضوطول-

ضوطونګ:(ضو-طه-ونګ)حاصل مصدر- وګوري ضوطول-

ضوطونه:(ضو-طه-و-نه)حاصل مصدر- وګوري ضوطول-

ضياء:(ض-يا)اسم- واحد- مذکر- رڼا- د نمر رڼا-

ضيافت:(ض-يا-فت)اسم- واحد- مذکر- مېلمستيا- ډوډۍ- بلنه- دعوت-

ضيف:(ضيف)اسم- واحد- مذکر- مېلمه-

ضيق:(ضيق)اسم- واحد- مذکر- تنګسيا- تکليف-

ضيق النفس:(ضي-قن-نفس)اسم- واحد- مذکر- دمه- سالنډے- ساہ بندي- دم کوتاني- يو قسم د سينې بيماري-

---

ط:(طوی)حرف- دَ پښتو دَ حروف تهجي دَ ېتې شپږويشتم او دَ عربي شپارسم حرف- دا حرف په هغه لفظونو کښې استعماليږي چې دَ عربي نه پښتو ته راغلي وي-

طاحون:(طا-حون)اسم- واحد- مذکر- طاعون- تاوون- وبا- يو قسم متعدي مرض-

طارم:(طا-رم)اسم- واحد- مذکر- بالاخانه- برتنے منزل-

طاس:(طاس)اسم- واحد- مذکر- جام- ښانکه- لګن- پرات-

طاعت:(طا-عت)اسم- واحد- مذکر- بندګي- دَ خدائي تابعداري کونه-

طاعون:(طا-عون)اسم- واحد- مذکر- طاخون- تاوون- يو قسم متعدي مرض-

طاغي:(طا-غي)اسم صفت- واحد- مذکر- نامنونکے- سرکش- نافرمانه- نافرمان-

طاق:(طاق)اسم- واحد- مذکر- (۱)تاخ- (۲)محراب- (۳)دَ جفت ضد- (۴- صفت)هوښيار- چالاک- ماهر- (۵)اثاني- بې جوړې-

طاقت:(طا-قت)اسم- واحد- مذکر- زور- توان- وس- دم-

طاقتور:(طا-قت-ور)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- طاقت لرونکے- وس لرونکے- زوراور-

طاقچه:(طاق-چه)اسم تصغير- تاخچه- تاخوړے- طاق- ىرے- وړوکے تاخ-

طاقي:(طا-قي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)يو قسم وړه ټوپۍ- قوله- (۲)هغه اس چې يوه سترګه ئې غټه او بله وړه وي-

طال:(طال)اسم صفت- واحد- مؤنث- زوړ-

طالب:(طا-لب)اسم- واحد- مذکر- غښتونکے- خواهشمند- طلبګار-

طالح:(طا-لح)اسم صفت- بدعمله- بدکرداره- بې لارې- بدنامه-

طالع:(طا-لع)اسم- واحد- مذکر- (۱)راختونکے- (۲)حصه- نصيب- قسمت-

طالع من:(طا-لع-من)صفت- واحد- مذکر- وګورئ طالع مند-

طالع مند:(طا-لع-مند)اسم صفت- خوش قسمته- نصيب ور- قسمت ور-

طامح:(طا-مح)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)نافرمان- نافرمانه- سرکش- (۲)وچت-

طامع:(طا-مع)اسم صفت- واحد- مذکر- لالچي- طمع لرونکے-

طاؤس:(طا-وس)اسم- واحد- مذکر- يو قسم ښائسته مارغه- مور-

طاهر:(طا-هر)صفت- واحد- مذکر- صفا- پاک- پاکيزه- سپېڅلے-

طائر:(طا-ئر)اسم- واحد- مذکر- مارغه-

طائفه:(طا-ئِ-فه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)جماعت- ټولګے- ګروه- ډله- پره- جنبه- طبقه- (۲)دَ سندرغاړو او رقاصو ډله-

طب:(طب)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ دواګانو او علاج علم- طبابت- (۲)علاج-

طبابت:(طِ-با-بت)اسم- واحد- مذکر- طبيبي- حکمت- علاج-

طباخ:(طَ-باخ)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)لنګري- اشپز- پخلے کونکے- پچونکے- (۲- صفت)ضاق- کاسه- ورد او پلن تالے- تبجے-

طباشير:(طا-با-شير)اسم- واحد- مذکر- يو قسم مشهوره دوائي-

طباعت:(طَ-با-عت)اسم- واحد- مذکر- چهاپ- چاپ کونه- دَ چاپ عمل-

طبع:(طَ-بع)اسم- واحد- مؤنث- (۱)سرشت- طبيعت- خصلت- خوئ- (۲)چاپ- مُهر لګونه-

طبعاً:(طب-عن)متعلق فعل- دَ خوئ خصلت متعلق- دَ مزاج متعلق- فطرتي- په طبع سره-

طبق:(طَ-بق)اسم- واحد- مذکر- (۱)تالے- پيالي- تال- (۲)دَ ځناورو يوه بيماري- سوه پښے- (۳)تخته- پلن څيز- (۴)درجه- منزل-

طبقات:(طب-قات)اسم- جمع- مذکر- دَ طبقې جمع- درجې- منزلونه- رتبې- پردې-

طبقاتي:(طب-قا-تي)صفت- دَ طبقات سره منسوب-

طبقه:(طب-قه)اسم- واحد- مؤنث- ډله- پره- جنبه- جُماعت- (۲)درجه- رتبه- منزل-

طبقه بندي:(طب-قه-بن-دي)اسم مرکب- جماعت بندي- درجه بندي-

طبل:(طَ-بل)اسم- واحد- مذکر- نغاره- ډول- دمامه-

طبله:(طب-له)اسم- واحد- مذکر- دَ ساز غږولو آله- دوبړې- دوکړې-

طبلي:(طب-لي)اسم- واحد- مؤنث- وړوکي طبله- دبلي- ډولکے-

طبي:(طِ-بي)اسم صفت- دَ طب په بابله- دَ طب په حقله- دَ طب متعلق-

طبيب:(طَ-بيب)اسم- واحد- مذکر- حکيم- دَ يوناني دواګانو په علم پوهه- دَ طب ماهر-

طبيبي:(طَ-بي-بي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)طبابت- دَ حکمت کار- (۲- صفت)دَ طب متعلق- حکيمي- دَ طب سره منسوب-

طبيعت:(طَ-بي-عت)اسم- واحد- مذکر- خوئ خصلت- مزاج- طبع-

طبيعتاً:(طَ-بي-عة-تن)متعلق فعل- په طبع- په طبيعت سره- فطرتاً-

طبيعي:(طَ-بي-عي)اسم صفت- وګورئ طبعي-

طبيله:(طَ-بي-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)اصطبل- طويله- دَ اسونو دَ تړلو ځائ- (۲)خيل خانه- دَ کور ټول افراد-

طرار:(طَ-رار)اسم صفت- واحد- مذکر- چالاک- تېره ژبے- (۲)ګنکې- ګنکې- ګنکې-

طراره:(طَ-را-ره)اسم صفت- واحد- مؤنث- مسته- چالاکه-

طراري:(طَ-را-ري)اسم- واحد- مذکر- (۱)تېري- چالاکي- (۲)ګنکې- ګنکې- ګنکې-

طراز:(طَ-راز)اسم- واحد- مذکر- نقش ونګار- په کپړه بوټي ګلونه- (۲- صفت)په مرکباتو کښې دَ "کوونکي" په معنی-

طراوت:(طَ-را-وت)اسم- واحد- مذکر- تازګي- ښرازي- نم- لوندوالے-

طرب:(طَ-رب)اسم- واحد- مذکر- سرور- خوشحالي- خوشالي- مستي- ښادي-

طربانه:(طَر-با-نه)متعلق فعل- دَ طرب سره متعلق-

طربناکه:(طَ-رب-نا-که)اسم- واحد- مؤنث- مسته- خوشحاله- خوشاله-

ی (ښی-رل)، ی(ښي-ره-ول)، ی(پيا-لی)، يې(تن-دې) تفصيل دَ پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

طرحه:(طر-حه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)بنیاد- (۲)طریقه- انداز- هغه مصرعه چي د هغې په وزن، ردیف او قافیه مختلف شاعران ارادتاً لیکل وکړي-

طرز:(طرز)اسم- واحد- مذکر- انداز- طریقه- طور-

طرف:(ط-رف)اسم- واحد- مذکر- لور- غاړه- ژۍ- مخه- پېره- پلو- رو- رُخ- خوا-

طرفة العین:(طر-فـتل-عین)متعلق فعل- د سترګو په رپ کښي-

طرفدار:(ط-رف-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- معاون- حمایت کوُنکے- جانب دار- مرسته کوُنکے- پېره کونکے- طرفداري کوُنکے-

طرفداري:(ط-رف-دا-ري)اسم- واحد- مؤنث- جانبداري- حمایت- مرسته- تعاون- پېره-

طرفین:(ط-رف-ین)اسم- جمع- مذکر- دواړه طرفه- دواړه اړخه- دواړه فریق-

طرۀ:(طُ-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)شمله- (۲)زلفې- (۳)کاکل- پېچکے- (۴)عجیبه خبره- (۵)یو قسم کالے-

طریق:(طَ-ریق)اسم- واحد- مذکر- (۱)لاري- (۲)قاعده- دستور- رواج- روش- (۳)مذهب-

طریقت:(ط-ري-قت)اسم- واحد- مذکر- لار- مذهب- علم تصوف- دَ باطن ترکیه-

طریقه:(طَ-ري-قه)اسم- واحد- مؤنث- چل- رو- لار- ترکیب- قاعده-

طشت:(طشت)اسم- واحد- مذکر- تال- لوئ بانډه-

طعام:(طَ-عام)اسم- واحد- مذکر- پوړي- خوراک- روټي- اننام- جمع طعامونه-

طعامیه:(طَ-عام-یه)اسم- واحد- مؤنث- طعام- خوراک- پوړي- روټي- نمړي- طعمه-

طعمه:(طع-مه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ طعامیه-

طعمه دار:(طع-مه-دار)صفت- واحد- مذکر- پوړي ورکوُنکے- روټي ورکونکے- خوراک ورکونکے-

طعمه داري:(طع-مه-دا-ري)اسم- واحد- مؤنث- خوراک ورکونه- پوړي ورکونه-

طعن:(طعن)اسم- واحد- مذکر- عیب راوبستنه- پېغور- طنز- طعنه-

طعنه:(طع-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ طعن-

طغیان:(طغ-یان)اسم- واحد- مذکر- سرکشي- زور زیاتے- ظلم-

طغیاني:(طغ-یا-ني)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د سیند راختنه- چله- (۲)بغاوت- سرکشي- نافرماني-

طفیل:(ط-فیل)اسم- واحد- مذکر- ذریعه- وسیله- باعث-

طفیلی:(طُ-فے-لي)اسم صفت- واحد- مذکر- خوشامندګر- د بل په ډوډۍ لوئ شوے- تالی څټ-

طلا:(ط-لا) اسم- واحد- مذکر- (۱)سرۀ زر- (۲)یو خاص قسم تېل چي په وجود مَښلے کیږي- (۳)د سرو زرونه جوړه یوه خاص قسم سکه-

طلاق:(ط-لاق)اسم- واحد- مذکر- ښځه پرېښودنه- ښځه دَ نکاح نه آزادوونه-

طلاقت:(ط-لا-قت)اسم- واحد- مذکر- تېزژبے- تېزخبرے- تېزګفتارے-

طلاقول:(ط-لا-قَ-ول)مصدر متعدي- طلاق ورکول- بېلول- جُدا کول-

طلاقون:(طَ-لا-قَ-ون)حاصل مصدر- وګورئ طلاقول-

طلاقونکے:(ط-لا-ق-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع طلاقونکي- مؤنث طلاقوُنکي- وګورئ طلاقول-

طلاقونګ:(ط-لا-قَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ طلاقول-

طلاقونه:(ط-لا-قَ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ طلاقول-

طلاقي:(ط-لا-قي)اسم صفت- هغه سړے چي ښځي له ئ طلاق ورکړے وي- (۲)بې غیرته- دله- دَوس-

طلاقېدل:(ط-لا-قې-دل)مصدر لازم- طلاق کېدل- طلاق ورکړے کېدل- ښځه لهٔ خاونده ازادېدل-

طلاقېدن:(ط-لا-قې-دن)حاصل مصدر- وګورئ طلاقېدل-

طلاقېدنګ:(ط-لا-قې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ طلاقېدل-

طلاقېدنه:(ط-لا-قې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ طلاقېدل-

طلاقېدونکے:(ط-لا-قې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع طلاقېدونکي- مؤنث طلاقېدونکي- وګورئ طلاقېدل-

طلاقېدهٔ:(ط-لا-قې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ طلاقېدل-

طلاوت:(ط-لا-وت)اسم- واحد- مذکر- تازګي- ښائست- ښکلے والے- زیباني-

طلائي:(ط-لا-ئي)اسم صفت- واحد- مؤنث- دَ طلا سره منسوب- سرو زرو سره منسوب-

طلب:(ط-لب)اسم- واحد- مذکر- (۱)غوښتنه- خواهش- (۲)تنخواه- ضرورت- (۳)په مرکباتو کښي دَ غوښتونکي په معنیٰ- (۴)دعوت- راغوښتنه-

طلبانه:(طل-با-نه)اسم- واحد- مؤنث- هغه رقم یا فیس چي په عدالت کښي د مقدمې دَ پاره داخلولے شي- کورټ فیس-

طلبول:(طل-بـ-ول)مصدر متعدي- غوښتل- راغوښتل- بلل- طلب کول- حاضرول-

طلبون:(طَل-بـ-ون)حاصل مصدر- وګورئ طلبول-

طلبونکے:(طَل-بـ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع طلبوُنکي- مؤنث طلبوُنکي- وګورئ طلبول-

طلبونګ:(طَل-بـ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ طلبول-

طلبونه:(طَل-بـ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ طلبول-

طلبوهٔ:(طَل-بـ-وهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ طلبول-

طلبېدل:(طَل-بې-دل)مصدر لازم- غوښتے کېدل- غوښتلے کېدل- بللے کېدل-

طلبېدن:(طَل-بې-دن)حاصل مصدر- وګورئ طلبېدل-

طلبېدنګ:(طَل-بې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ طلبېدل-

www.pukhto.net

طلبېدنه:(طل-بې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ طلبېدل-

طلبېدونکے:(طل-بې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع طلبېدونکي- مؤنث طلبېدونکې- وګورئ طلبېدل-

طلبېده:(طل-بې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ طلبېدل-

طلسم:(ط-لسم)اسم- واحد- مذکر- جادو- سحر- نظربندي- تماشه- نااشنا کار-

طلعت:(طل-عت)اسم- واحد- مذکر- مخ- څهره- رُخ-

طلوع:(ط-لوع)اسم- واحد- مذکر- ختمه- نمرختنه- نمرځېرکه- د نمر سترګه ختنه- نمرګړکه-

طله:(ط-له)اسم- واحد- مؤنث- زر- سره زر-

طله کاري:(ط-له-کا-ري)اسم- د زرو کار- زرګري-

طمانچه:(ط-مان-چه)اسم- واحد- مؤنث- څپېړه- پرق- (۲)طماچه-

طمانيت:(ط-ما-ني-يت)اسم- واحد- مذکر- اطمينان- تسلي-

طمطراق:(طم-طه-راق)اسم- واحد- مذکر- دبدبه- شان- شوکت-

طمع:(طم-ع)اسم- واحد- مؤنث- اسره- لالچ- حرص- طمعه-

طمعه:(طم-عه)اسم- واحد- مذکر- وګورئ طمع-

طناب:(ط-ناب)اسم- واحد- مذکر- (۱)رسۍ- د خېمې پړے - (۲)هغه زمکه چې په کال کښې په کښې يو محل کيږي- تناو-

طناز:(ط-ناز)اسم صفت- واحد- مذکر- ناز او ادا کونکے- ناز اومخري کونکے-

طنبک:(طم-بک)اسم- واحد- مذکر- وړوکے ډول- ډولکے-

طنبور:(طم-بور)اسم- واحد- مذکر- ستار- د يو مشهور ساز نوم-

طنز:(طنز)اسم- واحد- مذکر- ټوقه- د سپکاوي خبره-

طنطنه:(طن-طه-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱) د ماڼو او سرونو اواز- (۲)شان شوکت- ټيس ټپاس- غرور- دبدبه- رُعب داب- (۳)بدخويي- بدمزاجي- غصه-

طواف:(ط-واف)اسم- واحد- مذکر- (۱)د څه نه چاپېره تاوېدنه- (۲)د خانه کعبې نه تاوېدنه-

طوالت:(ط-وا-لت)اسم- واحد- مذکر- وږدوالے- زياتوالے-

طوائف:(ط-وا-ئف)اسم- واحد- مؤنث- ډمه- ګډېدونکې-

طوبى:(طو-با)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)پاک- ډېر پاک- (۲)(اسم)خير- سعادت- خوښي- (۳)په جنت کښې د يوې ونې نوم-

طور۲:(طور)اسم- واحد- مذکر- طريقه- ډول- طرز- حالت- کيفيت- عندې توب- دود- رسم ورواج- روش-

طور:(طور)اسم- واحد- مذکر- د هغه غر نامه چې الله تعالىٰ به پرې موسىٰ عليه السلام سره راز کولو- د هغه غر نوم چې الله تعالىٰ به پرې موسىٰ عليه السلام ته خپله جلوه ښودله-

طورطريقه:(طور-طري-قه)اسم مرکب- جوړ جاړ- کړه وړه- جمع طور طريقې-

طوطي:(طو-طي)اسم- واحد- مذکر- يوه وړه لکۍ لرونکے شين مارغه چې د انسان په شان خبرې زده کولو صلاحيت لري-

طوطي مرغي:(طو-طي-مر-غي)اسم مرکب- وګورئ طوطي موتي-

طوطي موتي:(طو-طي-مو-تي)اسم مرکب- د کړولے شوې واورې رنګينه عبان، چې ماشومان يې خوري- طوطي مرغي-

طوطيا:(طو-طيا)اسم- واحد- مؤنث- نيلاتوتا- ميلاتوتا- د رنجو کاڼے-

طوغ:(طوغ)اسم- واحد- مذکر- جنډه- بيرغ- علم- نشان- نښه- توغ- جمع طوغان موعومه-

طوفان:(طو-فان)اسم- واحد- مذکر- (۱)سيلاب- نيز- (۲)خول- تېزه سيلۍ- (۳)واويلا- غوغا- (۴)الزام- تهمتونه- (۵- صفت)تباه- برباد-

طوفان جال:(طو-فان-جال)اسم- واحد- مذکر- وګورئ توپان جال-

طوفاني:(طو-فا-ني)اسم صفت- (۱)طوفان سره منسوب-

طوق:(طوق)اسم- واحد- مذکر- (۱)غاړکۍ- لۀ مرۍ نه تاو پړے يا پټۍ- (۲)د غلامۍ پټۍ- (۳)اوږي- ګلې بند- (۴)لۀ مارغانو د مرۍ نه تاو پټه-

طول:(طول)اسم- واحد- مذکر- وږدوالے- درازي- د وږدوالي فاصله-

طولاني:(طو-لا-ني)اسم صفت- واحد- مذکر- وږد- دراز-

طولے:(طو-لا)صفت- واحد- مذکر- کامل- پوره- مکمل-

طومار:(طو-مار)اسم- واحد- مذکر- (۱)نغښتے- (۲)سرګزشت- وږده قيصې- وږد تحرير-

طويل:(ط-ويل)اسم- واحد- مذکر- لوي- وږد- دراز-

طهارت:(ط-ها-رت)اسم- واحد- مذکر- پاکي- صفائي- پاکوالے- پاکيزګي- د بدن پاکوالے-

طهر:(ط-هر)اسم- واحد- مذکر- د ښځې د پاکۍ ورځې- د حيض نه پاکېدنه-

طياره:(ط-يا-ره)اسم- واحد- مؤنث- جهاز- جاز- الوتکه-

طيب:(طي-يب)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)پاک- حلال- (۲)لذيذ- مؤنث طيبه-

طينت:(طي-نت)اسم- واحد- مذکر- طبيعت- طبع- خصلت- مزاج- خوي بوي-

ئ (ئی-رل)، ي (مي-رمول)، ی (ېبالی)، ې (تی-دی) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

ظ:(طوی)حرف- دَ پښتو د بڼې اروېشتم او دَ عربي وژلسم حرف-

ظالم:(ظا-لِم)اسم صفت- واحد- مذکر- بې رحمه- ظلم کونکے- زیاتے کونکے-

ظالمانه:(ظا-ل-ما-نه)صفت- د ظلم سره متعلق- دَ ظلم په حقله-

ظاهر:(ظا-هر)اسم صفت- واحد- مذکر- ښکاره- واضح- په نظر راتلونکے- ځرګند-

ظاهراً:(ظا-هِ-رن)متعمو فعل- په ظاهره- په ډاګه- په ښکاره- ظاهر سره متعلق-

ظاهرداري:(ظا-هر-دا-ري)اسم- واحد- مؤنث- ځان ښودنه- ریاکاري- نمود-

ظاهرول:(ظا-هر-ول)مصدر متعدي- ښکاره کول- واضحه کول- ځرګندول-

ظاهرون:(ظا-هر-ون)حاصل مصدر- وګورئ ظاهرول-

ظاهرونکے:(ظا-هر-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ظاهرونکي- مؤنث ظاهرونکې- وګورئ ظاهرول-

ظاهرونګ:(ظا-هر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ظاهرول-

ظاهرونه:(ظا-هر-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ظاهرول-

ظاهرېدل:(ظا-هر-ې-دل)مصدر لازم- واضحه کېدل- ښکاره کېدل- ځرګندېدل- په ډاګه کېدل-

ظاهرېدن:(ظا-هر-ې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ظاهرېدل-

ظاهرېدنګ:(ظا-هر-ې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ظاهرېدل-

ظاهرېدنه:(ظا-هر-ې-ده-نه)حاصل مصدر- وګورئ ظاهرېدل-

ظاهرېدونکے:(ظا-هر-ې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ظاهرېدونکي- مؤنث ظاهرېدونکې- وګورئ ظاهرېدل-

ظاهرېده:(ظا-هر-ې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ ظاهرېدل-

ظرافت:(ظ-را-فت)اسم- واحد- مذکر- خوش طبعي- ټوقې ټکالې- مسخرې- مخرې ټوکې-

ظرف:(ظرف)اسم- واحد- مذکر- (۱)لوښے- (۲)حوصله- (۳)ګنجائش- ځاې کېدنه- (۴)استعداد- قابلیت- (۵)چالاکي- زیرکي- (۶)هغه اسم چې د ځاې یا وخت معنیٰ ورکوي-

ظروف:(ظُ-روف)اسم- جمع- مذکر- دَ ظرف جمع- وګورئ ظرف-

ظرفیت:(ظَر-فِي-يت)اسم- واحد- مذکر- حوصله- اهلیت- استطاعت- طاقت-

ظریف:(ظَ-ريف)اسم صفت- واحد- مذکر- خوش مذاجه- خوش طبع- ټوقمار- ټوقي- ټکي- د خندا خبرې او نخرې پېښي کونکے-

ظفر:(ظَ-فَر)اسم- واحد- مذکر- فتح- کامیابي- غلبه- ګټه-

ظل:(ظل)اسم- واحد- مذکر- سیورے-

ظلم:(ظُ-لم)اسم- واحد- مذکر- زیاتے- بې رحمي- زبردستي-

ظلمات:(ظُل-مات)اسم- جمع- مذکر- دَ ظلمت جمع- تیرې- ظلمتونه- تاریکي-

ظلماتي:(ظُل-ما-تي)صفت- دَ ظلمت سره منسوب-

ظلمت:(ظُل-مت)اسم- واحد- مذکر- تیاره- توره تیاره- تاریکي-

ظلوم:(ظَ-لوم)اسم صفت- واحد- مذکر- لوئ ظالم- ډېر زیات- حد نه وتونکے-

ظن:(ظن)اسم- واحد- مذکر- ګومان- خیال- شک- اندازه- راې-

ظهر:(ظُ-هر)اسم- واحد- مذکر- ښا- ملا-

ظهور:(ظُ-هور)اسم- واحد- مذکر- ظاهرېدنه- ښکاره کېدنه-

ظهیر:(ظَ-هير)اسم صفت- واحد- مذکر- معاون- حامي- ملګرے- دوست-

غ:(غین)د پښتو د حروف تهجی اتویشتم حرف او د عربي اتلسم حرف د عربي مخصوص حرف - د پښتو په مغه الفاظو کښې ونیلے شی کوم چې د عربي نه پښتو ته راغلی دی۔

عابد:(عا-بد)اسم صفت- واحد- مذکر- پارسا- عبادت کونکے۔

عاج:(عاج)اسم- واحد- مذکر- (۱)د ماتی غاښ- (۲)(صفت) کوږ۔

عاجز:(عا-جز)اسم صفت- واحد- مذکر- بې وسه- ناچار- غریب۔

عاجزی:(عا-جز-ری)اسم- واحد- مونث- بې وسی- غربت- ناچاری- کمزوری۔

عاجل:(عا-جل)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)تلوار کونکے- جلدباز- (۲)حاضر- موجود۔

عاجی:(عا-جی)اسم- واحد- مونث- د ماتی د غاښونو نه جوړه وسخ۔

عاد:(عاد)اسم عدد- هغه عدد چې یو معلوم عدد پوره تقسیم کړی۔

عادات:(عا-دات)اسم- جمع- د عادت جمع- خصلتونه- خویونه- عادتونه۔

عاداعظم:(عا-د-اَع-ظم)اسم عدد- هغه لوئ نه لوئ عدد چې دوه یا دوو نه زیات عددونه پوره پوره تقسیم کړی۔

عادت:(عا-دت)اسم- واحد- مذکر- خصلت- خوی- خوی بوی- طبیعت۔

عادتاً:(عا-د-تَن)متعلق فعل- په عادت سره- په طبیعت سره- د عادت مطابق۔

عادل:(عا-دل)اسم صفت- واحد- مذکر- عدل کونکے۔

عادلانه:(عا-د-لانه)صفت- د عدل- د عدل نه ډک۔

عادی:(عا-دی)اسم صفت- مذکر- مؤنث- (۱)عادت- امرخته- بلد- (۲)معمولی۔

عار:(عار)اسم- واحد- مذکر- شرم- حیا- غیرت۔

عارس:(عا-رس)اسم- واحد- مسک- مسور- د مسورو دال- د نباتاتی نوم د پاره زګوری مسور۔

عارض:(عا-رض)اسم- واحد- مذکر- (۱) مخ- رُخسار- انننګے- (۲)(صفت)راپیښیدونکے- مخې ته راتلونکے- لاحق کیدونکے۔

عارضه:(عا-ر-ضه)اسم- واحد- مؤنث- ناجوړتیا- بیماری- رنځ- مرض۔

عارضی:(عار-ضی)اسم صفت- واحد- مؤنث- سرسری- د لږ وخت - انتقالیه۔

عارف:(عا-رف)اسم صفت- واحد- مذکر- پوهیدونکے- خبردار- نیک انسان- خداشناس۔

عاری:(عا-ری)اسم- واحد- (۱)بربنډ- (۲)خالی- تش- (۳)معذور- مجبور- عاجز- تنګ- بې وسه- (۴)هغه نثر چې نه مسجع وی او نه رنګین- ساده نثر۔

عاریت:(عا-ری-یت)اسم- واحد- مذکر- قرض- پور- غښتنه۔

عاریتاً:(عا-ری-یه-تن)متعلق فعل- د قرض په توګه- د څو ورځو د پاره- په پور۔

عاریتی:(عا-ری-یه-تی)اسم صفت- واحد- مؤنث- عارضی- د لږ وخت د پاره- قرض غوښتلے شوے۔

عازم:(عا-زم)اسم صفت- واحد- مذکر- اراده لرونکے- قصد کونکے۔

عاشق:(عا-شق)اسم- واحد- مذکر- مین- شیدا- مشتاق- غښتونکے- په مینه کښې عروق۔

عاشقانه:(عا-شقا-نه)صفت- عاشق سره منسوب۔

عاشقتوب:(عا-شق-توب)اسم- واحد- مذکر- مینتوب- مینه کونه- محبت کونه- مینیدنه۔

عاشق دری:(عا-شق-د-ری)اسم صفت- واحد- مذکر- بې خونده عاشق- کمزورے عاشق۔

عاشقی:(عا-ش-قی)اسم- واحد- مونث- مینه- محبت- مینتوب- مینیدنه۔

عاشوره:(عا-شو-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱) د محرم د میاشتې ورومبی لس ورځې- (۲)د امامانو میاشت- د محرم میاشت- د حسینانو میاشت۔

عاصم:(عا-صم)اسم صفت- واحد- مذکر- بچ کونکے- محافظ۔

عاصی:(عا-صی)اسم صفت- واحد- مذکر- ګنهګار- نامنونکے- نافرمانه- جمع عاصیان۔

عاطر:(عا-طر)صفت- واحد- مذکر- (۱)خوشبویه- خوشبودار- (۲)پاک- پاکیزه- نفیس۔

عاطف:(عا-طف)اسم- واحد- مذکر- (۱)راز- (۲)صفت- مهربانی کونکے- عسی اواز کونکے- (شاعرانه)۔

عاطفت:(عا-ط-فت)اسم- واحد- مذکر- مهربانی- شفقت- پیرزوینه- ورکړه- عنایت۔

عافی:(عا-فی)اسم صفت- واحد- مذکر- معاف کونکے- بخښونکے۔

عافیت:(عا-فی-یت)اسم- واحد- مذکر- خیریت- سلامتیا- سلامتی۔

عاق:(عاق)اسم صفت- واحد- مذکر- د مور پلار نه ویزاره- نافرمانه- د مور پلار نامنونکے۔

عاقبت:(عا-ق-بت)اسم- (۱)انجام- نتیجه- اخرت- (۲)اخر- د نتیجې په توګ۔

عاقل:(عا-قل)اسم صفت- واحد- مذکر- هوښیار- پوهیدونکے- عقلمند- دانا۔

عاقلانه:(عا-ق-لانه)صفت- د عاقل سره منسوب۔

عالم:(عا-لَم)اسم- واحد- مذکر- (۱) دنیا- جهان- زمانه- (۲)ټول خلق- جمع عالمونه۔

عالم:(عا-لِم)اسم صفت- واحد- مذکر- د علم خاوند- پوهیدونکے- دانشمند- جمع علماء۔

عالم الغیب:(عا-لِ-مُل-غیب)اسم صفت- د الله تعالیٰ صفتی نوم- د غیب علم لرونکے- په غیبو پوهه۔

عالم جبروت:(عا-لَ-مه-جب-روت)اسم- واحد- مذکر- د الله تعالیٰ د صفاتو مرتبه۔

عالمګیر:(عا-لم-ګیر)اسم صفت- واحد- مذکر- په ټول جهان خور- په ټول عالم خور۔

عالم ملکوت:(عا-لَ-مه-مَل-کوت)اسم- واحد- مذکر- د فرښتو دنیا۔

عالم ناسوت:(عا-لَ-مه-نا-سوت)اسم- واحد- مذکر- د حرام او د اجساد

ی (حی وں) ی (صي-ره-ول) ی (بما لی) ی (تن-دی) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۹

www.pukhto.net

دُنیا- دَ بنیادمو دنیا- د انسانانو دُنیا- فاني دُنیا-

عالمي:(عا-لَ-مي)صفت- د عالم سره منسوب-

عالي:(عا-لي)اسم صفت- واحد- مذکر- وُچت- لوئ- دَ لوئ مرتبې خاوند-

عام:(عام)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ خاص ضد- مشهور- هرځائ خور- (۲)رواجي- رسمي- (۳)معمولي- ادنی-

عام خاص:(عام-خاص)اسم صفت- مرکب- عام وخاص- د سپلمې-

عامر:(عا-مر)اسم صفت- واحد- مذکر- آباد- پوره- ډک- (۲)آبادونکے- تعمیرونکے- جوړونکے-

عامل:(عا-مل)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)دَ کوډو تعویذونو وغیره کار کونکے- (۲)هغه سړے چې دَ مال باقاعده زکوٰة ورکوي- (۳)کار کونکے- (۴)عمل کونکے- (۵)اګورنر- حاکم-

عامله:(عا-م-له)اسم صفت- واحد- مؤنث- عام خلق- عامیان- هغه خلق چې خاص نهٔ وي- د معاشرې زیاته طبقه-

عامول:(ع-م-ول)مصدر متعدي- عام کول- مشهورول- شهرت ورکول- مقبلول- خورول-

عامون:(عا-م-ون)حاصل مصدر- وګورئ: عامول-

عامونکے:(عا-م-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ: عامول-

عامونګ:(عا-م-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ عامول-

عاموَنه:(عا-م-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ: عامول-

عاموهٔ:(عا-م-وهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ: عامول-

عامه:(عا-مه)اسم- واحد- مؤنث- عام خلق- عامیان- هغه خلق چې زیات وي- دَ معاشرې زیاته طبقه-

عامي:(عا-مي)اسم صفت- واحد- مذکر- ړوند- ناخوانده- جاهل-

عامیانه:(عام-یا-نه)اسم صفت- واحد- مؤنث- عام-

عامېدل:(عا-مې-دل)مصدر لازم- عام کېدل- مشهورېدل- شهرت مونډل- مقبولېدل-

عامېدن:(عا-مې-دن)حاصل مصدر- وګورئ: عامېدل-

عامېدنګ:(عا-مې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ: عامېدل-

عامېدنه:(عا-مې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ: عامېدل-

عامېدونکے:(عا-مې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع عامېدونکي- مؤنث عامېدونکې- وګورئ: عامېدل-

عامېدهٔ:(عا-مې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ: عامېدل-

عاید:(عا-ید)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)لګولے- مقرر شوے- (۲)واپس راتلونکے- راګرځېدونکے-

عائدات:(عا-ئې-دات)اسم- جمع- امدني- منافعې- ګټې- فائدې- د امدن ذریعې-

عائداتي:(عا-ئې-دا-تي)اسم صفت- دَ عائدات سره- دَ ګټې یا اَمدن ذریعه یا ذرائع-

عایق:(عا-یق)اسم صفت- واحد- مؤنث- مانع- خنډ- منع کوُنکے- ایسارونکے- مخ نیوے کونکے- په څهٔ کار کښې خنډ راپېدا کوُنکے- جمع عوایق-

عائله:(عا-ئې-له)اسم- واحد- مؤنث- خاندان- ښځه او ماشومان- ټبر- ښځه او بال بچ- اَہل- اَل-

عبا:(عَ-با)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ وړی چُغه- (۲)یو قسم واسکټ چې لستوني ې نهٔ وي-

عباد:(عِ-باد)اسم- جمع- د عبد جمع- غلامان- بندګان-

عبادت:(عِ-با-دَت)اسم- واحد- مذکر- خدائ یادونه- بندګي- نمونځ-

عبارت:(عِ-با-رَت)اسم- واحد- مذکر- تحریر- لیکه- مضمون- خبره- جمله- مقصد- مراد-

عباس:(عه-باس)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)بوټ تندے لرونکے- غُصه ناک- (۲)مذرے- زمرے- مزرے- دَ سائنسي نوم دَ پاره وګورئ زمرے-

عباسي ګل:(عَ-با-سي-ګل)اسم- واحد- مذکر- دَ یو ګل نوم- ګل عباسي- ګلا باسي- نباتاتي نوم (MIRABILIS JALAPA)-

عبث:(عَ-بث)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)فضول- (۲)بېکاره- (۳)بې فائدې- ضائع- (۴)متعلق نعل- ناحق- بې وجې-

عبد:(عبد)اسم- واحد- مذکر- بنده- غلام- جمع عباد-

عبدیت:(عَب-دی-یت)اسم- بندګي- غلامي-

عبراني:(عَب-را-ني)اسم- واحد- مؤنث- دَ بني اسرائېلو زړه ژبه چې پکښې تورات نازل شوے وو- دَ یهودیانو مذهبي ژبه-

عبرت:(عِب-رَت)اسم- واحد- مذکر- (۱) فکر کونه- نصیحت اخستنه- نصیحت حاصلونه- (۲)وېره- خوف-

عبرتناک:(عِب-رَت-ناک)اسم صفت- واحد- مذکر- دَ عبرت نه ډک- دَ نصیحت نه ډک-

عبودیت:(عُ-بو-دی-یت)اسم- واحد- مذکر- بزرګي- غلامي- اطاعت- عبادت-

عبور:(عَ-بور)صفت- واحد- مذکر- بدمزاجه- ترش طبعیت- کاږساؤ- بروس- عباس-

عبوسیت:(عَ-بو-سي-یت)اسم- واحد- مذکر- ترش روئي- بدمزاجي- بروسوالے- کاږساوے- کورمتوب-

عتاب:(عِ-تاب)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)غصه- ملامتیا- (۲)بدمزاجي- بدخوئي-

عتیق:(عَ-تیق)صفت- واحد- مذکر- اصیل- ساهو- محترم- پخوانے- زوړ-

عجائب:(عَ-جا-ئب)صفت- جمع- مذکر- دَ عجیب جمع- دَ تعجب نه ډک څیزونه- نااشنا څیزونه-

www.pukhto.net

عجائب خانه:(عَ-جا-ئب-خا-نه)اسم مرکب- عجائب گر- هغه ځائ چرته چې ناآشنا او عجيبه څيزونه پراته وي-

عجائب:(عَ-جا-ئب-گر)اسم مرکب- واحد- مذکر- وګورئ: عجائب خانه-

عجبْ:(عَ-جب)اسم صفت- واحد- مذکر- عجيبه- نااشنا- حېرانونکے-

عجب:(عُ-جْب)اسم- واحد- مذکر- غرور- تکبر- لوئي- خودبيني-

عجز:(عَ-جِز/عجز)اسم- واحد- مذکر- عاجزي- کمزورتيا- نااهليت- ناچاري- انکسار-

عُجلت:(عُج-لت)اسم- واحد- مذکر- تېزي- جلتي- تادې- تُندي- تلوار- سېړه-

عجم:(عَ-جَم)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ګونګے- (۲)دُ عربستان نه بغير نور ملکونه-

عجمي:(عَ-جَ-مي)صفت- دُ عجم سره منسوب-

عجيب:(عَ-جيب)اسم صفت- واحد- مذکر- نااشنا- نادر- د تعجب او حېراسيا نه ډک-

عدالت:(عِ-دا-لت)اسم- واحد- مذکر- (۱)انصاف- عدل- (۲)کچهري- د انصاف ځائ- (۳)دُ يوې نه زياتو ښځو تر منځه دُ حقوقو دُ مساوات سلوک-

عدالتي:(عَ-دا-ل-تي)صفت- دُ عدالت سره منسوب-

عداوت:(عَ-دا-وت)اسم- واحد- مذکر- دُشمني- بدي- عناد- مخالفت- نفرت- کينه-

عدت:(عِد-دت)اسم- واحد- مذکر- شمېره- شمار- هغه موده چې طلاقه شوې ښځه يا کونډه شوې ښځه پکښې دُ بل چا سره نکاح نهٔ شي کولے- دُ طلاقې شوې ښځې دُ پاره درې مياشتې دُ کونډې دُ پاره څلور مياشتې دُ حاملې د پاره د ماشوم تر پېدا کېدو پورې مقرره وخت-

عدد:(عَ-دد)اسم- واحد- مذکر- شمار- شمېره- هندسه-

عددي:(عَ-دَ-دي)صفت- دُ عدد سره منسوب- دُ اعداد و شمار پهٔ حقله-

عدسه:(عَد-سه)اسم- واحد- مؤنث- هغه شفافه چې پلوشې پهٔ يو مرکز راټولوي يا يې خوروي-

عدل:(عَ-دل/عُدل)اسم- واحد- مذکر- (۱)انصاف- (۲)انصاف کونه- برابرونه- برابرے-

عدلي:(عد-لي)صفت- واحد- مذکر- د عدل سره منسوب-

عدليه:(عَد-لي-يه)اسم- واحد- مؤنث- دُ حکومت دُ دريو څانګو نه هغه يوه څانګه چې دُ انصاف کار کوي- دُ انصاف يا عدل څانګه-

عدم:(عَ-دَم)اسم- واحد- مذکر- د وجود ضد- نيشتوالے- نيشت- نيستي- دُ هست ضد-

عدم پته:(عَ-دم-پ-ته)اسم صفت مرکب- بې درکه- ورک- تښتوغيے- ترے تم-

عدن:(عَ-دن)اسم- واحد- مذکر- (۱)ټول عمري وسېدنه- هميشه والے- (۲)دُ ادم عليه السلام او بي بي حوا باغ-

عدو:(عَ-دو)اسم- واحد- مذکر- دُشمن- دښمن- مخالف- رقيب- حريف-

عدول:(عُ-دول)اسم- واحد- مذکر- انکار- نافرماني کونه- سخ ګرځونه-

عديل:(عَ-ديل)صفت- واحد- مذکر- برابر- همسر- هم مرتبه- يو شان- دُ دوولې پلار کيجاوې دُ يو اړخ سورلي- دُ يو انډې سورلي-

عديم:(عَ-ديم)صفت- واحد- مذکر- (۱) ورک- ناپېده- ناياب- پټ- (۲)جاهل- نادان-

عذاب:(عَ-ذاب)اسم- واحد- مذکر- تکليف- درد- دُ ګناه سزا-

عذابول:(عَ-ذا-بو-ول)مصدر متعدي- تکليف وررسول- درد رسول- سزا ورکول- کړول-

عذابون:(عَ-ذا-بو-ون)حاصل مصدر- وګورئ: عذابول-

عذابونکے:(عَ-ذا-بو-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع عذابونکي- مؤنث عذابونکې- وګورئ: عذابول-

عذابونګ:(عَ-ذا-بو-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ: عذابول-

عذابونه:(عَ-ذا-بو-ونه)حاصل مصدر- وګورئ: عذابول-

عذابېدل:(عَ-ذا-بې-دل)مصدر لازم- تکليفېدل- درېدل- سزا کېدل- کړېدل-

عذابېدن:(عَ-ذا-بې-دن)حاصل مصدر- وګورئ: عذابېدل-

عذابېدنګ:(عَ-ذا-بې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ: عذابېدل-

عذابېدنه:(عَ-ذا-بې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ: عذابېدل-

عذابېدونکے:(عَ-ذا-بې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع عذابېدونکي- مؤنث عذابېدونکې- وګورئ: عذابېدل-

عذابېدهٔ:(عَ-ذا-بې-دهٔ)حاصل مصدر او دُ ماضي استمراري دُ واحد غائب صيغه- وګورئ: عذابېدل-

عذار:(عِ-ذار)اسم- واحد- مذکر- بارخو- انګے- غمبورے- رُخسار-

عذر:(عُ-ذر/عُذر)اسم- واحد- مذکر- (۱) بهانه- حيله- (۲)معذرت- تعزيت- (۳)دليل- اعتراض- (۴)انکار-

عُذرژن:(عُ-ذر-ژن)اسم صفت- واحد- مذکر- معذور- عذردار- عُذر کونکے- معذرت لرونکے- عذرمن- عُذرمند-

عذرخواهي:(عُ-ذر-خوا-هي)اسم- واحد- مؤنث- معافي غوښتنه- دُ خپلې بې وسۍ اظهار کونه-

عذرمن:(عُ-ذر-من)صفت- وګورئ: عذرژن-

عذرمند:(عُ-ذر-مند)صفت- وګورئ: عذرژن-

عرابه:(عَ-را-به)اسم- واحد- مؤنث- ارابه- د ګاډي وغيره پايه-

عرائيض:(عَ-را-ئيض)اسم- جمع- مذکر- دُ عريضې جمع- درخواستونه- خواستونه-

عربده:(عر-بده)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)بدخوئي- بې لحاظي- جګړه- فساد-

عرس:(عُرس)اسم- واحد- مذکر- دُ پيرانو او وليانو دُ کليزې فاتحې رسم- دُ فاتحې او سماع جلسه-

عرش:(عرش)اسم- واحد- مؤنث- (۱)تخت- دُ بادشاه دُ ناستې ځائ-

(۲)مرتبه- عزت- (۳)چت- (۴)تمبو- خیمه- (۵)دَ مادیاتو او فلکیاتو دَ حدونو نه بالا تر مقام چرته چې دَ مقربو فرشتو نه علاوه صرف حضور صلّی الله علیه وآله وسلّم دَ معراج په شپه رسېدلے وو- دَ الله تعالیٰ تخت-

عرشه:(عَر-شه)اسم- واحد- مؤنث- دَ جهاز چت- دَ ممبر دَ ټولو نه اخری زینه یا پوړی-

عرصات:(عه-ر-صات)اسم- واحد- مذکر- قیامت- دَ محشر ورځ- د حساب کتاب ورځ-

عرصه:(عَر-صه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وخت- موده- وقفه- زمانه- (۲)فاصله-

عرض:(عَرض)اسم- واحد- مذکر- (۱)درخواست- خواست- (۲)پلن والے- خور والے- ارت والے- (۳)د کور سامان- اسباب-

عرض بلد:(عرض-بلد)اسم مرکب- هغه فرضي کرښې چې دَ زمکې په پلنوالي کښې دَ تقسیم په غرض راکښلے شوې وي-

عرضه:(عَر-ضه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ښکاره کول- ښکاره کونه- (۲)بیانونه- عرض کونه-

عرضي:(عَر-ضي)اسم صفت- واحد- مذکر- خواست- درخواست- عریضه- هغه لیک چې پکښې حال عرض کړے شوے وي-

عرف:(عُرف)اسم- واحد- مذکر- (۱)تعارف- پېژندګلو- (۲)مانسه- (۳)دستور- رواج- (۴)دَ اصل نوم نه علاوه دویمه نامه چې بنده پرې مشهور وي-

عرفات:(عه-ر-فات)اسم- واحد- مذکر- هغه مېدان چرته چې حاجیان د حج په ورځ راجمع کیږي او لبیک لبیک وائي-

عرفان:(عر-فان)اسم- واحد- مذکر- پېژندګلو- پېژندګلي- اشنائي- شناخت- دَ الله تعالیٰ معرفت- دَ الله تعالیٰ پېژندنه-

عرفه:(عَ-رَ-فه)اسم- واحد- مؤنث- دَ لوې اختر نه یوه ورځ وړاندې ورځ- دَ ذی الحجه نهمه نېټه-

عرفي:(عُر-في)اسم صفت- واحد- مذکر- رسمي- معمولي- دَ رسم مطابق-

عرق:(ع-رق)اسم- واحد- مذکر- (۱) خوله- (۲)رس- اُبه- جوهر-

عرق النساء:(عر-قُن-ن-سا)اسم- یوه بیماري چې د پښې یو رګ پکښې ماکاره شي-

عروج:(عُ-روج)اسم- واحد- مذکر- وچتوالے- لوړوالے- بلندي- مرتبه-

عروس:(عَ-روس)اسم- واحد- مؤنث- ناوې-

عروض:(عَ-روض)اسم- واحد- مذکر- هغه علم چې پکښې دَ شعرونو دَ صحیح وزن دَ معلومولو قاعدې بیان شوې وي-

عُروق:(عُ-روق)اسم- جمع- مذکر- رګونه- وژې- ریښې-

عریان:(عُر-یان)اسم صفت- واحد- مذکر- بربنډ- لغړ- لوڅ-

عریاني:(عُر-یا-ني)اسم- واحد- مؤنث- بربنډوالے- لغړتوب- لغړوالے- لوڅوالے-

عریض:(عَ-ریض)اسم صفت- واحد- مذکر- ویړ- پلن- خورور-

عریضه:(عَ-ري-ضه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)چیټی- خط- (۲)درخواست- خواست- (۳)هغه درخواست چې مخصوصه دُعا پرې ولُستې شي او دَ الله تعالیٰ یا دَ امام مهدی په نامه په سیند کښې وُبیولے شي-

عزا:(عَ-زا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ماتم پرستي- ماتم- ویر- (۲)دَ امام حسن علیه السلام ماتم-

عزازیل:(عَ-زا-زیل)اسم- واحد- مؤنث- شیطان- ابلیس-

عزائم:(عَ-زا-یم)اسم- جمع- مذکر- دَ عزم جمع- وګورئ عزم-

عزت:(عِ-زَت)اسم- واحد- مذکر- لوئي- بزرګي- حُرمت- ابرو- احترام-

عزتمن:(عِ-زت-مَن)اسم صفت- واحد/جمع- مذکر- عزتمند- دُ عزت خاوند- د عزت څښتن- محترم- عزت دار- عزتناک-

عزتمند:(عِ-زت-مَند)اسم صفت- مذکر- وګورئ عزتمن-

عزتناک:(عِ-زَت-ناک)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ عزتمن-

عزرا:(عز-را)اسم- واحد- مؤنث- ظاهر مخ- ظاهري صورت-

عزرائیل:(عز-را-ئیل)اسم- واحد- مؤنث- دَ مرګ فرشته- هغه فرشته چې په روحونو قبض کولو مقرر کړے شوې ده-

عزم:(عَ-زم)اسم- واحد- مذکر- (۱)نیت- اراده- قصد- (۲)فیصله- (۳)مُدعا-

عزوجل:(عز-و-جل)اسم- واحد- مذکر- غالب او دَ جلال خاوند- دَ خدایٔ تعالیٰ صفتي نوم-

عزیز:(عَ-زیز)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)خپل- رشته دار- (۲)همسر- برابر- (۳)مرغوب- خوښ- خوږ- (۴)کمیاب-

عزیزګلوي:(عَ-زیز-ګل-وي)اسم- واحد- مؤنث- رشته داري- برابري- خپلولي- عزیزولي- عزیزوالي- خپښي-

عزیزوالي:(عَ-زیز-وا-لي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ عزیزګلوي-

عزیزولي:(عَ-زیز-و-لي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ عزیزګلوي-

عزیمت:(عَ-زي-مت)اسم- واحد- مؤنث- (۱)اراده- نیت- (۲)دم- منتر- افسون-

عساکر:(عَ-سا-کر)اسم- جمع- مذکر- فوځونه- لښکري- د عسکر جمع-

عسر:(عُ-سر)اسم- واحد- مذکر- سختي- تنګسیا- تنګوالے- (۲)حادثه-

عسرت:(عس-رت)اسم- واحد- مذکر- تنګسیا- تکلیف- مفلسي- غریبي- جمع عسرتونه-

عسس:(عَ-سَس)اسم صفت- واحد- مذکر- کوتوال- دَ ښار نګران-

عسکر:(عس-کر)اسم- واحد- مذکر- (۱)لښکر- فوځ- (۲)صفت- سپاهي- لښکري- فوځي-

عسکري:(عس-کري)اسم- واحد- مذکر- (۱)سپاهي ګیرت- سپاهي توب- لښکري توب- (۲)صفت- د عسکر سره منسوب- بهادر- تکړه- زړه ور-

عسکریت:(عس-کري-یت)اسم- واحد- مذکر- تکړه والے- بهادري- زړه ورتیا- شجاعت- په جنګ پوهېدنه-

www.pukhto.net

عسل:(عَ-سَل)اسم- واحد- مذکر- شات- ګبين- انګبين- شهد-

عشا:(عِ-شا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د ماښام نه پس تر سبا راختو پورې وخت- (۲)ماسخُتن- دَ ماښام دَ نمانځهٔ نه پس فرض لمونځ-

عشاق:(عُ-شاق)اسم صفت- جمع- مذکر- د عاشق جمع- مئينان-

عشر (عُ-شر)اسم صفت- واحد- مذکر- لسمه حصه-

عشرت:(عِش-رَت)اسم- واحد- مذکر- ښهٔ ژوند- آرام- سوکالي-

عشق:(عِشق)اسم- واحد- مذکر- مينه- محبت- دَ ليونتوب تر حده رسيدلې مينه-

عشق باز:(عِشق-باز)صفت- حسن پرست- عاشق مزاج- عياش-

عشق بازی:(عِشق-با-زي)اسم صفت- عاشقي- مينتوب- حسن پرستي- عياشي-

عشقي:(عِش-قي)صفت- د عشق سره منسوب-

عشوه:(عِش-وه)اسم- واحد- مؤنث- نازو ادا- غمزه- نخره- فريب-

عشوه پرداز:(عِش-وه-پَر-داز)اسم صفت- واحد- مذکر- نخرې کونکے- نخره کونکے- ناز کونکے-

عصا:(عَ-صا)اسم- واحد- مؤنث- امسا- کونټي- چوکه-

عصاره:(عُ-صا-ره)اسم- واحد- مؤنث- نچوړې کړے شوې اُبهٔ يا رس- عرق- جوهر-

عصب:(عَ-صَب)اسم- واحد- مذکر- پټه- پله- جمع اعصاب-

عصباني:(عص-با-ني)اسم صفت- واحد- مذکر- قهرژند- عصب ناک- عصه ناک- قهرژن-

عصبانيت:(عص-با-نی-يت)اسم- واحد- مذکر- قهرژني- عصه توب- عضبناک والے-

عصبي:(عص-بي)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)وارخطاه- (۲)اعصابي بيمار-

عصبيت:(عَ-صَ-بی-يَت)اسم- واحد- مذکر- بُغض- کينه- حسد- تربګني- تعصب- دُشمني-

عصر:(عَ-صَر/عُصر)اسم- واحد- مذکر- (۱)روزګار- (۲)وخت- زمانه- (۲)دَ مازيګر وخت- مازيګر- دَ مازيګر لمونځ-

عصرانه:(عص-را-نه)اسم- واحد- مؤنث- دَ مازيګر ړوې- دَ ماښام ړوې- عصريه-

عصري:(عص-ري)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)نوے- جديد- د موجوده زمانې سره تعلق لرونکے- دَ دې وخت- دَ دې زمانې- (۲)دَ عصر سره منسوب-

عصريه:(عَص-ري-يه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ عصرانه-

عصفور:(عُص-فور)اسم- واحد- مذکر- چړچڼه- مرغۍ-

عصمت:(عِص-مَت)اسم- واحد- مذکر- (۱)ناموس او عزت- پاکي- پاکدامني- هغه پاکي چې د پيدائش نه تر مرګه پورې څهٔ ګناه ونهٔ کړے شي-

عصمت فروشه:(عص-مت-ف-رو-شه)اسم صفت- رنډي- بدکاره ښځه- کنجره-

عصمت فروشي:(عِص-مَت-ف-رو-شي)اسم- واحد- مؤنث- بدکارې- کنجرتوب- زناکاري- رنډيتوب-

عصيان:(عص-يان)اسم- واحد- مذکر- ګناه- نافرماني-

عضو:(عُ-ضو)اسم- واحد- مذکر- اندام- دَ بدن حصه- جمع اعضاء-

عضوتناسل:(عُض-و-تَ-نا-سُل)اسم- واحد- مذکر- غړی- ذکر- غين- عضو مخصوص-

عضومخصوص:(عُض-و-مَخ-صوص)اسم- واحد- مذکر- وګورئ عضوتناسل-

عطا:(عَ-طا)اسم- واحد- مذکر- ورکړه- بخښنه- پېرزوينه- انعام-

عطاپاش:(عَ-طا-پاش)اسم صفت- واحد- مذکر- بخشش کونکے- سخي-

عطار:(عَ-طار)صفت- واحد- مذکر- عطري- عطرفروش- عطر خرڅونکے- عطاري-

عطارد:(عُ-طا-رِد)اسم- واحد- مذکر- يوه سياره چې دَ نمر سره نژدې ده او پهٔ (۸۸) ورځو کښې يو چکر پوره کوي-

عطاري:(عَ-طا-ري)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ عطار-

عطر:(عطر)اسم- واحد- مذکر- خوشبوئي- دَ ګلونو عرق چې خوشبو کوي-

عطرپليل:(عِ-طر-پ-ليل)اسم- واحد- جمع- مذکر- يو قسم خوشبويه تېل-

عطرفروش:(عِ-طر-فَ-روش)اسم صفت- واحد- مذکر- عطر خرڅونکے- عطري- عطار-

عطرمن:(عِ-طر-مَن)اسم صفت- واحد- مذکر- خوشبويه- خوشبودار- خوشبوئي کونکے- مؤنث عطرمنه-

عطسه:(عط-سه)اسم- واحد- مؤنث- انتروشې- اينګې-

عطش:(عَ-طَش)اسم صفت- واحد- مذکر- تنده- دَ اوبو څښلو خواهش وحاجت-

عطف:(عَ-طَف)اسم- واحد- مذکر- (۱)توجه- راګرځونه- رغبت- (۲)هغه لفظ چې پهٔ يوه فقره کښې د دوؤ خبرو تړون راولي-

عطيه:(عَ-طي-يه)اسم- واحد- مؤنث- بخشش- سخاوت- انعام کړے شوے خير- بخښلې شوے څيز-

عظمت:(عَظ-مَت)اسم- واحد- مذکر- شان- لوئي- بزرګي- لوئي والے-

عظيم:(عَ-ظيم)اسم صفت- واحد- مذکر- ډير لوئي- بزرګ-

عظيم الشان:(عَ-ظی-مُوش-شان)اسم صفت- واحد- مذکر- دَ ډيرې لوئي مرتبې خاوند- دَ لوئي شان خاوند- لوئي شان لرونکے-

عفت:(عِف-فت)اسم- واحد- مذکر- پاکدامني- پاکي- پاکوالے- پرهيزګاري-

عفريت:(عِ-فَ-ری-يَت)اسم- واحد- مذکر- (۱)ديو- (۲)غټ سړے- تيار او کُرب سړے-

عفو:(عف-وه)اسم- واحد- مذکر- معافي- بخښنه- خطاء معاف کونه-

عفونت:(عُ-فو-نَت)اسم- واحد- مذکر- بدبوئي-

عقه:(عَ-قه)اسم- واحد- مؤنث- پرغز- يوه بيماري-

عفيف:(عَ-فيف)اسم صفت- واحد- مذکر- بې داغه- پاکدامن- پرهيزګار- نيک اخلاق- معصوم- مؤنث عفيفه-

عقاب:(عُ-قاب)اسم- واحد- مذکر- (۱)يو قسم مشهور مارغهٔ چې ډير تيز

www pukhto net

او وُجت الوخې- دَ باز یو قسم- (۲)دَ کیمیاګرو پهٔ اصطلاح کښې نوشادر- نیشادر-

عقائد:(عَ-قا-ئد)اسم- جمع- مذکر- دَ عقیدې جمع- پوخ یقین- پهٔ حق پوهېدنه او هغه پهٔ زړهٔ کښې ایښونه-

عقبیٰ:(عُق-بیٰ)اسم- واحد- مؤنث- اخرت- دویم جهان-

عقد:(عَقد)اسم- واحد- مذکر- (۱)تړون- تړنه- وعده- (۲)نکاح-

عقده:(عُق-ده)اسم- واحد- مؤنث- (۱)غوټه- ول- (۲)بندېز- مخ نیوے- (۳)ګرانه خبره- پېچیده خبره-

عقرب:(عَق-رَب)اسم- واحد- مذکر- (۱)لړم- (۲)دَ اسمان دَ یو برج نوم- (۳)دَ شمسی کال اتمه میاشت-

عقل:(عَ-قَل/عَقل)اسم- واحد- مذکر- هوښیارتیا- پوهه- دانائی- فهم- ادراک-

عقل دندان:(عَ-قَل-دَن-دان)اسم مرکب- جمع- مذکر- دَ عقل داړې- دَ عقل غاښونه-

عقلمن:(عَ-قَل-مَن)صفت- واحد- مذکر- عقل مند- عاقل- پوهه- هوښیار- سیانه- زیرک- دانا-

عقلمند:(عَ-قَل-مَند)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ عقلمن-

عقلی:(عَق-لی)اسم صفت- واحد- مذکر- د عقل سره منسوب-

عقوبت:(عَ-قو-بَت)اسم- واحد- مذکر- عذاب- سزا- تکلیف- درد-

عقوبت:(عُ-قو-بَت)اسم- واحد- مذکر- انجام- آخره-

عقیدت:(عَ-قی-دَت)اسم- واحد- مذکر- اعتقاد- دَ زړهٔ یقین- اراده- ایمان-

عقیده:(عَ-قی-ده)اسم- واحد- مؤنث- مذهبی یقین- پوخ اعتماد- پوخ یقین- ایمان- اعتقاد-

عقیق:(عَ-قیق)اسم- واحد- مذکر- دَ سور رنګ یو قیمتی کاڼے چې غمی ترې جوړولے شی-

عقیقه:(عَ-قی-قه)اسم- واحد- مؤنث- هغه بلنه چې دَ ماشوم دَ پیدائښت پهٔ اوومه ورځ دَ هغهٔ دَ سر خرېیلو او نوم ایښو دَ تقریب پهٔ موقع ورکولے شی-

عقیمه (عَ-قی-مه)اسم صفت- واحد- مؤنث- شنډه ښځه- هغه ښځه چې ماشوم ئې نهٔ کیږی-

عکاس:(عَ-کاس)اسم صفت- واحد- تصویر جوړونکے- تصویر وېستونکے- عکاسی کونکے-

عکس:(عَکس)اسم- واحد- مذکر- (۱)سیورے- (۲)اپوټه شوے لفظ- (۳)عداوت- دُشمنی- بغض- ضد-

عکس العمل (عک-سُل-عَ-مَل)اسم مرکب- جواب- ردعمل-

علاج:(عِ-لاج)اسم- واحد- مذکر- (۱)چاره- تدبیر- (۲)دارو- دَ رنځ دارو- (۳)سزا- جمع علاجونه-

علاقه:(عِ-لا-قه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)تعلق- دوستی- تړون- (۲)تحت- حکومت- (۳)حدود- سرحد- (۴)خاوره- حلقه- (۵)جاګیر- ملکیت-

علاقه دار:(عِ-لا-قه-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)رشته دار- (۲)دَ وړې حلقې یا ضلعې حاکم-

علاقه داری:(عِ-لا-قه-دا-ری)اسم- واحد- مؤنث- دَ وړې ضلعې یا حلقې مشری- (۲)وړه ضلع- حلقه- دَ حاکم دَ انتظام لاندې حلقه-

علالت:(عَ-لا-لَت)اسم- واحد- مؤنث- بیماری- ناروغتیا- ناروغی- دَ طبیعت ناسازی-

علامات:(عَ-لا-مات)اسم- جمع- مذکر- دَ علامت جمع- وګورئ علامت-

علامت:(عَ-لا-مَت)اسم- واحد- مذکر- نښان- نښه- نښان- نشانه- نښانه- برک- پېژندګلی- جمع علامتونه- علامات-

علامه:(عَ-لا-مه)صفت- واحد- مذکر- لوئ عالم- غیر معمولی قابلیت لرونکے-

علامه:(عَ-لا-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱) نښه- نښانه- برک- نښه نښانه- (۲)اندازه- حالت- جمع علامې-

علانیه:(عَ-لا-نی-یه)متعلق فعل- پهٔ ډاګه- پهٔ ښکاره- پهٔ جار-

علاوه:(عِ-لا-وه)متعلق فعل- (۱)سوا- پرې دَ پاسه- (۲)بې- بغیر- سوا-

علت:(عِ-لَت)اسم- واحد- مذکر- (۱)سبب- وجه- ایلت- (۲)ناروغی- بیماری- کمزوری- ناسازی- (۳)شر- شرارت- شیطانی- جګړه-

علتی:(عِ-لَت-تی)اسم صفت- واحد- مذکر- ایلتی- پساتی- ښتېه باز- جګړمار- شری- مؤنث- علتۍ- جمع علتیان-

علف:(عَ-لَف)اسم- واحد- مذکر- واښهٔ- کیا-

علق:(عَ-لَق)اسم- واحد- مذکر- (۱)ژوروالے- (۲)جم شوې وینه- ټکه وینه-

علم:(عِ-لَم)اسم- واحد- مذکر- (۱)پوهه- خبرېدنه- واقفیت- هوښیارتیا- دانائی- هُنر- جوهر- (۲)جادو- منتر-

علم:(عَ-لَم)اسم- واحد- مذکر- (۱)نشان- جنډه- نښه- (۲)دَ اسم معرفه قسم-

علمدار:(عَ-لَم-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه څوک چې دَ لښکر نه ئې وړاندې نښان یا جنډه نیولې وی-

علمداری:(عَ-لَم-دا-ری)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)دَ علم سره منسوب- (۲)دَ لښکر پهٔ سر کښې جنډه وړنه یا دَ جنډې وړلو کار-

علمی:(عِل-می)صفت- دَ علم سره منسوب-

علمیت:(عِل-می-یَت)اسم- واحد- مذکر- علم لرنه- علم کېدنه- قابلیت-

علن:(عَ-لَن)صفت- ښکاره- څرګند-

علنی:(عَ-لَ-نی)متعلق فعل- پهٔ ډاګه- پهٔ جار- پهٔ ښکاره-

علوفه:(عَ-لو-فه)اسم- واحد- مذکر- خوراک- خوراکه- روزی- راتبه- وظیفه-

علی الدوام:(عَ-لَد-دَ-وام)صفت- واحد- مذکر- دائم- همېشه پاتې کېدونکے-

علی الفور:(عَ-لَل-فور)متعلق فعل- سمدستی- زر- ژر-

علی بند:(عَ-لی-بَند)اسم- واحد- مذکر- پهٔ مروند دَ تړلو کالے-

علیا:(عَل-یا)صفت- واحد- مذکر- ډېر وُچت- شان و شوکت لرونکے- خاڼله نهٔ استعمالیږی-

زبر (ځ-مـځ-ره)، زورکے (شل)، پېښ (تو-کا-ره)، زمر (کـ-سیاب)، حزم (شکون)، ه (ر-وه)، ة (ډو-سي-ده)

www.pukhto.net

علیت:(عِل-لی-یَت)اسم- واحد- مذکر- علت توب- علت والے- اېلت والے-

علیل:(عَ-لیل)اسم صفت- واحد- مذکر- ناروغه- هغه څوک چې ناروغه وي- بیمار- رنځور-

علیم:(عَ-لیم)اسم صفت- واحد- مذکر- ډېر پوهېدونکے- لوئ عالم- دَ الله تعالیٰ یو صفاتي نوم- ډېر علم لرونکے-

علییون:(عِ-لی-یُون)اسم صفت- واحد- مذکر- دَ جنت وسېدونکے- جنتي-

علیین:(عِ-لی-یین)اسم- واحد- مذکر- جنت-

علیحده:(عَ-لی-حِده)اسم- واحد- مؤنث- جُدا- ځانله- بېل-

علیک سلیک:(عَ-لیک-سَ-لیک)اسم- واحد- مذکر- دَ لارې دَ سر اشنائي- معمولي پېژند ګلو- لږ شان واقفیت- سلام کلام- سلام دُعا- سرسري ملاقات- معمولي تعلق-

عمارت:(عِ-ما-رَت)اسم- واحد- مذکر- اَباديِ- کور- مکان-

عماری:(عَ-ما-ري)اسم- واحد- مؤنث- انبالي- امبالي- موږه- پرولي- دَ اوښ کجاوه- کیجاوه- د اوښ پرولي-

عمامه:(عِ-ما-مه)اسم- واحد- مؤنث- پګړۍ- دستار- پټکے-

عمداً:(عَم-دَن)متعلق فعل- قصداً- ارادتاً- پهٔ اراده سره- پهٔ قصد سره-

عمده:(عُم-ده)اسم صفت- واحد- مذکر- غوره- خوښ- منتخب- ښهٔ-

عمر:(عُ-مُر)اسم- واحد- مذکر- ژوند- وخت- مودّه- عهد- دور-

عمره:(عُم-ره)اسم- واحد- مؤنث- دَ حج دَ ورځو نه علاوه دَ بیت الله شریف زیارت او سعي کونه-

عمری:(عُم-ري)اسم صفت- واحد- مذکر- دَ عمر- دَ ټول عمر- ابدي- ټول عمري- همېشه همېشه- همېش- تمام عمر- کلهم عمر- پهٔ مخه- مر مېشه- مروخت- مدام- تل- ترقیامته- تل تر تله-

عمق:(عُ-مَق)اسم- واحد- مذکر- ژور والے-

عمل:(عَ-مَل)اسم- واحد- مذکر- (۱)کار- کړه- (۲)اختیار- (۳)جادو- (۴)اثر- (۵)انتظام- (۶)څهٔ دَ نشې څیز استعمالونه- عادت-

عملاً:(عَ-مَ-لَن)متعلق فعل- دَ عمل لهٔ اعتباره- پهٔ عمل سره-

عملداری:(عَ-مَل-دا-ري)حاصل مصدر- علاقه داري- صوبه داري- دَ لاس لاندې احاطه- صوبه- ریاست-

عملنامه:(عَ-مَل-نا-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)هغه رجسټر یا کاغذ چې پکښې دَ بنده ښهٔ یا بد عمل درج کړے شوے وي- (۲)دَ انسان دَ اعمالو هغه یاداشت چې پهٔ انسان دوه مقررې فرښتې یې لیکي او دَ قیامت پهٔ ورځ به اسان ته پېش کولے شي-

عملی:(عَ-مَ-لي)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)دَ عمل سره منسوب- (۲)نشئ- اموخته- عادت-

عمود:(عَ-مُود)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ارم- ستن- (۲)هغه خط مستقیم چې پهٔ بل خط مستقیم باندې ئلنبېدو سره برابرې زاویئې جوړوي-

عمودی:(عَ-مو-دي)اسم- واحد- مذکر- د عمود سره منسوب-

عموم:(عُ-مُوم)اسم- واحد- مذکر- عام کېدنه- بغیر دَ شرطه دَ هر چا دَ پاره کېدنه-

عموماً:(عُ-مو-مَن)متعلق فعل- پهٔ عمومي توګه- پهٔ عمومي پړول- عام طور سره- اکثر-

عمومی:(عُ-مو-مي)اسم صفت- واحد- مؤنث- دَ عموم سره منسوب-

عمومیت:(عُ-مو-می-یت)اسم- واحد- مذکر- عام والے- عام کېدنه-

عمیق:(عَ-میق)اسم- واحد- مذکر- ژور- تل- تانه-

عنا:(عَ-نا)اسم- واحد- مؤنث- تکلیف- مشقت- درد- مصیبت-

عناب:(عُ-ناب)اسم- واحد- مذکر- یو قسم مېوه چې دَ وینې دَ صفائي دَ پاره دَ دارو پهٔ توګه استعمالولے شي- پېوندي بېره- ولېتي بېره- نباتاتي نوم رم نس زیزی فس (RHAMNUS ZIZYPHUS)-

عناد:(عِ-ناد)اسم- واحد- مذکر- دُشمني- مخالفت- کینه- عداوت- ضد- اَړی-

عنادی:(عِ-نا-دي)اسم صفت- واحد- مذکر- عناد لرونکے- مخالف-دُشمن-

عناصر:(عَ-نا-صِر)اسم- جمع- مذکر- دَ عُنصرجمع- وګورئ عنصر-

عنان:(عِ-نان)اسم- واحد- مذکر- (۱)واګې- لګام- (۲)اختیار- واک-

عنان گیر:(عِ-نان-ګیر)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)واګې نیونکے- (۲)واکمن- اختیارمن-

عنایات:(عِ-نا-یات)اسم جمع- وګورئ عنایت-

عنایت:(عِ-نا-یت)اسم- واحد- مذکر- مهرباني- احسان- شفقت- پېرزوینه- محبت- جمع عنایات، عنایتونه-

عنب:(عِ-نَب)اسم- واحد- مذکر- انګور- کور- نباتاتي نوم وټس وِنیفېرا (VITIS VINIFERA)-

عنبر:(عَم-بَر)اسم- واحد- مذکر- یو خوشبودار څیز چې دَ سمندر پهٔ غاړه موندے شي-

عنبرپاش:(عَم-بَر-پاش)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)عنبر شیندونکے- (۲)خوشبوئي ناک- خوشبویه- (۳)معشوقه- محبوبه-

عنبرفام:(عَم-بَر-فام)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)عنبرګون- دَ عنبر پهٔ شان رنګ لرونکے- (۲)ښائسته- ښکلے-

عنبرگون:(عَم-بر-ګون)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ عنبرفام-

عنبریز:(عَم-بَ-ریز)اسم صفت- واحد- مزکر- (۱)هغه چې عنبر پرې لګېدلے وي- د عنبرو- (۲)ښکلے- ښائسته- (۳)محبوب- معشوق- مؤنث عنبریزه-

عنبرین:(عم-بـ-رین)صفت- واحد- مذکر- (۱)دعنبرو- د عنبرو نه ډک- (۲)د عنبرو پهٔ شان-

عند:(عِنْد)اسم- واحد- مذکر- (۱)نژدې- جُخت- ورته- پهٔ مرکباتو کښې مستعمل دے-

عندلیب:(عَن-دَ-لیب)اسم- واحد- مذکر- بلبل- یو مشهور مارغهٔ چې پهٔ ګلونو مئین دے-

"ګ" (ګی-رل)، "ږ"(ږي-ره-ول)، "ی"(یپیا-لي)، "یې"(تن-دیې) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

عندی:(عن-دی)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه څوک چې په لیکلو او ویلو کښې د خپلې خوښې او ناخوښې اظهار کوی-
عنصر:(عُن-صُر)اسم- واحد- مذکر- ماده- اصلی جُز- اصل او بنیاد- جمع عناصر-
عنفوان:(عن-فـ-وان)اسم- واحد- مذکر- جمع- مذکر- اغاز- شروع- ابتداء- د څهٔ څیز شروع او بنائیست-
عنقا:(عن-قا)اسم- واحد- مذکر- (۱)د یو فرضی مارغهٔ نوم- (۲)هغه څیز چې نایاب وی-
عنقریب:(عن-قَ-ریب)متعلق فعل- ډیر ژر- سمدستي- فوراً- کهٔ وخت- نژدې-
عنکبوت:(عن-کَ-بوت)اسم- واحد- مذکر- جولا- غنه- خرمکس- (۲)دُ قرآن شریف نهویشتم سورة-
عنوان:(عُن-وان)اسم- واحد- مذکر- (۱)سرخط- دُ مضمون سرخی- سرلیک- سرنامه-
عوارض:(عَ-وا-رِض)اسم- جمع- مذکر- دُ عارضي جمع- وکوری: عارضه-
عواطف:(عِ-وا-طِف)اسم- جمع- مذکر- د عاطفت جمع- وکوری: عاطفت-
عواقب:(عَ-وا-قِب)اسم- جمع- دُ عاقبت جمع- وکوری: عاقبت-
عوام:(عَ-وام)اسم- جمع- مذکر- دُ عامه جمع- خلق- رعایا- اولس-
عوامل:(عَ-وا-مِل)اسم- جمع- مذکر- د عامله او عامل جمع- وکوری: عامل-
عوایق:(عَ-وا-یِق)اسم- جمع- وکوری: عایق-
عود:(عَود)اسم- واحد- مذکر- واپس کیدنه- راگرځیدنه- واپسی- ستنه-
عود:(عُود)اسم- واحد- مذکر- (۱)یو خوشبودار لرگے- (۲)دُ یوې باجې نوم-
عورت:(عَو-رَت)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دُ انسان دُ بدن هغه حصه چې دُ هغې بربنهول دُ شریعت له رویه ناجائز وی- (۲)ښځه-زنانه- ارتینه- عورته-
عورته:(عَو-رَ-ته)اسم- واحد- مؤنث- وکوری: عورته-
عورتینه:(عَور-تی-نه)اسم- واحد- مؤنث- ارتینه- ښځه- عورت- عورته- زنانه-
عوسکار:(عَو-سَ-کار)اسم صفت- واحد- مذکر- کاور- برچ- کوابی- منت-
عوض:(عِ-وَض)اسم- واحد- مذکر- (۱)بدله- معارضه- اجر- (۲)تاوان- سزا- عذاب-
عهد:(عَ-هَد)اسم- واحد- مذکر- وعده- ژبه- اقرار- (۲)وخت- موده- زمانه-
عهدشکن:(عَ-هَد-ش-کَن)اسم صفت- واحد- مذکر- وعده ماتونکے- وعده خلاف- بې ژبې کونکے-
عهدنامه:(عَ-هد-نا-مه)اسم- واحد- مؤنث- دُ وعدې لیک - دُ وعدې تحریر- (۲)یوه وړوکې مذهبی کتابچه-
عهده:(عُه-ده)اسم- واحد- مؤنث- منصب- درجه- مرتبه- رُتبه- حیثیت- جمع عهدې-
عهده دار:(عُه-ده-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- دُ عُهدې څښتن- دُ رُتبې خاوند- عُهدیدار- عهده لرونکے- مؤنث عهده داره- جمع عهده داران-
عهدیدار:(عُه-دي-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- وکوری: عهده دار-
عیادت:(عِ-یا-دَت)اسم- واحد- مذکر- دُ ناروغی تپوس- دُ ناروغی پښتنه- دُ رنځور پښتنه-
عیار:(عَ-یار)صفت- چالاک- دوکه باز- فریب ژن- مکار- مکرژن- ټگ- ټگژن-
عیاری:(عَ-یا-ری)اسم- واحد- مؤنث- چالاکي- دوکه- فریب- مکر- ټگی-
عیاش:(عَ-یاش)صفت- واحد- مذکر- عیش کونکے- دُ مزو ژوند تیرونکے- اوباش-
عیاشي:(عَ-یا-شي)اسم- واحد- مؤنث- فضول خرچی- عیش کونه- نفس پرستی- اوباشی-
عیال:(عِ-یال)اسم- جمع- مذکر- وارهٔ- زارهٔ- ایل- اقربا- ژاوزاد- بال بچ-
عیال دار:(عِ-یال-دار)صفت- واحد- مذکر- بال بچه دار- دُ ایل خاوند- ایل لرونکے-
عیان:(عِ-یان)صفت- واحد- مذکر- ښکاره- واضح- نمایان- ظاهر- څرگند- پاکیز-
عیب:(عیب)اسم- واحد- مذکر- نقص- کمزوری- نقصان- خرابی- خرابوالے- داغ-
عیب جوئی:(عیب-جو-ئي)اسم- واحد- مؤنث- نقص راویستنه- کمزوری ښکاره کونه- عیب لټونه-
عیب ژن:(عیب- ژن)صفت- واحد- مذکر- عیب لرونکے- نقصانی- داغی-
عیب ماش:(عیب-ماش)صفت- واحد- مذکر- عیب ښکاره کونکے - کمزوری څرگندونکے-
عیبی:(عی-بي)صفت- واحد- مذکر- عیب لرونکے- نقص لرونکے- خراب- داغی- عیب ژن-
عید:(عید)اسم- واحد- مذکر- دُ مسلمانانو مذهبی جشن- اختر- دُ خوشحالی جشن- ډیره خوشالی-
عیدالاضحیٰ:(عی-دل-اض-حا)اسم- واحد- مذکر- لوئ اختر- دُ قربانی اختر-
عیدالفطر:(عی-دل-فِطر)اسم- واحد- مذکر- وړوکے اختر- کمکے اختر- په رمضان پسې اختر-
عیدمیلاد:(عید-می-لاد)اسم- واحد- مذکر- دُ حضور صلی الله علیه وآله وسلم دُ پیدائش دُ خوشالی ورځ-
عیسائی:(عی-سا-ئي)اسم- واحد- مذکر- دُ عیسیٰ علیه السّلام اُمت ته ځان منسوبونکے- مسیحی-
عسائیت:(عی-سا-ئي-یت)اسم- واحد- مذکر- دُ حضرت عیسیٰ علیه السّلام طرف ته منسوب دین-
عیسوی:(عیس-وی)صفت- دُ عیسیٰ علیه السّلام سره منسوب- دُ عیسویت سره منسوب-
عیسویت:(عیس-وی-یت)اسم- واحد- مذکر- عیسائیت-
عیوب:(عُ-یوب)اسم- جمع- مذکر- د عیب جمع- عیبونه- وکوری: عیب-

زبر "(ع-بیڼ-ره) ، "زورکے"(شل) ، "پیښ"(نو-کیا-ره) ، "زیر"(کـ-تاب) ، "جزم"(شکوښ) ، "ء"(ژ-وه) ، "ۀ"(یو-سپي-ده)

www.pukhto.net

عېش (عېش)اسم- واحد- مذکر- د مرو ژوند تېرونه- ارام- نفس پرستی-

عېش ماش:(عېش- ماش)اسم مرکب- واحد- مذکر- مزې چړچې - تېس تپاس- موج ماَج- بېغمی- عېش- نفس پرستی کونه- عېش معاش-

عېش معاش (عېش-م-عاش)اسمِ مرکب- وګوری: عېش ماش-

عېن:(عېن)صفت- متعلق فعل- (۱)بالکل- دعه شان- هوبهو- (۲)اسم- سترګه- چشم-

عېناً:(ې-نَن)متعلق فعل- وګوری: عېن-

عېن غېن (عېن-غېن)اسم صفت- (۱)ډېر لږ فرق، څومره چې په عېن او غېن کښې وی- په یو شکل- په یو رنګ- (۲)هغه چې یوه سترګه کښې ئې ګل وی-

عېنک:(عې-نک)اسم- واحد- مذکر- چشمې- عېنکې-

عېنکې:(عې-ن-کې)اسم- جمع- مؤنث- وګوری: عېنک-

عېنی:(عې-نی)صفت- لیدونکے- په خپلو سترګو لیدونکے-

ی" (ئی-رل)، ې"(مې-رمن-ول)، ی"(ها-لی)، ے"(تن-دے) تفصیل د پاره وګوری: تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

غ:(غېن)حرف، دَ پښتو دَ حروف تهجي دَ پټې يو کم ديرشم او دَ عربي نولسم حرف چې دَ ابجدو له حسابه يې قيمت يو زر دے۔

غاب:(غاب)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)ختکل۔ (۲)تال۔ قاب۔ تالے۔ جمع غابونه۔

غابورے:(غا-بو-رے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ يو قسم وابنهٔ چې عموماً پهٔ غنمو کښې راخيژی او سور ګل کوی۔

غاپ:(غاپ)اسم صوت۔ غپ۔ غپا۔ غپل۔ دَ سپی غپ۔

غاپل:(غا-پل)مصدر لازم۔ دَ سپو اواز کول۔ غپل۔

غاتره:(غات-ره)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ قچر۔ قچره۔ خچر۔ جمع غاترې۔

غاټول:(غا-ټول)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ غټول۔ غاټټول۔ ګلِ لاله۔ غاټولے۔

غاټولے:(غا-ټو-لے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ: غاټول۔

غار:(غار)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وړوه لويه سوره۔ پرغل۔ سمڅه۔ سمڅ۔ کاره۔

غارت:(غا-رت)اسم۔ واحد۔ مذکر۔(۱)لوټ مار۔ تالان۔ هغه حمله چې پهٔ دُشمن باندې دَ لوټ مار دَ پاره وکړے شی۔ (۲)مالِ غنيمت۔ (۳)صفت۔ تباه۔ برباد۔

غارت ګر:(غا-رت-ګر)صفت۔ (۱)لوټ مار۔ لوټونکے۔ لوټ مار کونکے۔

غارخلے:(غار-خ-لے)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ لويه خُله لرونکے۔ لويُ خُلے۔ ويت خُلے۔ چينګ۔ ارت خُلے۔

غارغار:(غار-غار)اسم صفت۔ سوری سوری۔ سوړې سوړې۔ ګارې ګارې۔ ګارې ګيتې۔ چې ډېر غارونه پکښې وی۔

غارمهٔ:(غار-مهٔ)اسم۔ دَ نمر تاؤ۔ دَ نمر ګرمی۔ دَ نمر تودوالے۔ (۲)ټکنه غرمه۔ تنزه وار نمر۔

غارمدونه:(غا-رن-دو-نه)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ يو قسم لويه سمسره۔ غارندونې۔ سمسارهٔ۔ غاروزينه۔

غارندونې:(غا-رن-دو-نې)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ: غارندونه۔

غارروينه:(غا-رو-زی-نه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ: غارندونه۔

غارزی:(غا-رهٔ-وی)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ سمسره۔ سمسارهٔ۔

غارے:(غا-رے)صفت۔ ډېرخورے۔ ګېډه ور۔ ډېر خوراک کونکے۔ غاری۔

غاری:(غا-ری)صفت۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)پهٔ غار کښې وسېدونکے۔ (۲)ختکلی۔ (افغانستان)۔

غاری:(غا-ری)اسم صفت۔ خوراکی۔ ډېرخور۔ ډېرخورے۔ هغه کس چې پهٔ ډېر خوراک کولو هُم موړ نهٔ شی۔ غارے۔

غاړبندے:(غاړ-بن-دے)صفت۔ (۱)هغه څوک چې دَ غاړې نه تړلے شوے وی۔ (۲)ګرفتار۔

غاړبوژن:(غاړ-بو-ژن)صفت۔ خارښتی۔ دَ پښو پهٔ ګروتونو يا دَ غووږونو شا ته دَ خارښ مريض۔

غاړبوژنېدل:(غاړ-بو-ژنې-دل)مصدر لازم۔ دَ خارښ مرض لګېدل۔ دَ پښو پهٔ ګروتونو يا دَ غووږونو شا ته دَ خارښ مرض لګېدل۔

غاړبوژنېدن:(غاړ-بو-ژنې-دن)حاصل مصدر۔ وګورئ: غاړبوژنېدل۔

غاړبوژنېدنګ:(غاړ-بو-ژنې-دنګ)حاصلِ مصدر۔ وګورئ: غاړبوژنېدل۔

غاړبوژنېدنه:(غاړ-بو-ژنې-دنه)حاصلِ مصدر۔ وګورئ: غاړبوژنېدل۔

غاړبوژنېدونکے:(غاړ-بو-ژنې-دون-کے)اسمِ فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع غاړبوژنېدونکی۔ مؤنث غاړبوژنېدونکې۔ وګورئ: غاړبوژنېدل۔

غاړبوژنېدهٔ:(غاړ-بو-ژنې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صيغه۔ وګورئ: غاړبوژنېدل۔

غاړپټی:(غاړ-پټی)اسم۔ واحد/جمع۔ مؤنث۔ وګورئ: غاړکی۔

غاړکی:(غا-ړکی)اسم۔ واحد/جمع۔ مؤنث۔ (۱)غاړه کی۔(۲)پټی۔ پټه۔ هار۔ دَ غاړې پټی۔ دَ سپی يا بل ساتلی ځناور دَ غاړې پټه۔ (۳)ګردنی۔ دَ کارتوسو دَ ايښودلو پټی چې خلق يې پهٔ غاړه کوی۔ (۴)يو قسم پسول۔ اوری۔

غاړل:(غا-ړل)مصدر متعدی۔ نغښتل۔ نغاړل۔ نغړدل۔ نغړل۔

غاړلے:(غا-ړلے)اسمِ مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ جمع غاړلی۔ مؤنث غاړلې۔ وګورئ: غاړل۔

غاړن:(غا-ړن)حاصلِ مصدر۔ وګورئ: غاړل۔

غاړنګ:(غا-ړنګ)حاصلِ مصدر۔ وګورئ: غاړل۔

غاړنه:(غا-ړنه)حاصلِ مصدر۔ وګورئ: غاړل۔

غاړو:(غا-ړو)صفت۔ هغه سړے چې ځټ يې وړُد وی۔ وږدځټے۔ وږدغاړے۔

غاړونکے:(غا-ړون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع غاړونکی۔ مؤنث غاړونکې۔ وګورئ: غاړل۔

غاړه:(غا-ړه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)ځټ۔ (۲)مری۔ (۳)کناره۔ (۴)حاشيه۔ (۵)ټوقه۔ مسخره۔ (۶)ګرېون۔ (۷)زکام۔ (۸)خوش اوازی۔ (۹)سُر۔ دَ ژړا ستانبنه۔ (۱۰)دَ وښو يا کيا دومره مقدار چې څڼک ته راچولے شی۔ (۱۱)غوا۔ لور۔ (۱۲)دَ ژرندې دَ پول دَ پاسه اړولے شوې دانې۔ (۱۳)سندره۔

غاړه بسته:(غا-ړه-بس-ته)اسم صفت۔ (۱)ملاتړلے۔ تيار۔ وفادار۔ لاس پهٔ نامه۔ غاړه ښتے۔ غاړه تړلے۔

غاړه پېڅه:(غا-ړه-پې-څه)اسم مرکب۔ (۱)غاړه مورګه۔ غاړې پېڅکې۔ پوړه مورګه۔ څنډه۔ ګټ۔ ګوښه۔ (۲)انجام۔ (۳)حد۔ پوله۔ أخير۔ انتها۔

غاړه غاړه:(غا-ړه-غا-ړه)اسم صفت۔ څنډه څنډه۔ پوړه پوړه۔

غاړه غټه:(غا-ړه-غ-ټه)صفت/متعلق فعل۔ وګورئ: غاړه غټی۔

غاړه غټی:(غا-ړه-غ-ټی)صفت/متعلق فعل۔ هغه چې پهٔ خپلو کښې يې غاړه ورکړې وی۔ غاړه غړی۔ سينه پهٔ سينه۔ غاړه غجی۔ غاړه پهٔ غاړه۔

غاړه غجی:(غا-ړه-غ-جی)صفت/فعل۔ وګورئ: غاړه غټی۔

غاړه غړی:(غا-ړه-غ-ړی)صفت متعلق فعل۔ وګورئ: غاړه غټی۔

غاړه کی:(غا-ړه-کی)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ: غاړکی۔

غاړه ګری:(غا-ړه-ګ-ری)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ دَ سندرو ونېلو فن۔ ګلوکاری۔

غاړه ګرے:(غا-ړه-ګ-رے)صفت۔ سندرغاړے۔ ګلوکار۔

غاړه مورګه:(غا-ړه-مور-ګه)اسم مرکب۔ وګورئ: غاړه پېڅه۔

www.pukhto.net

غاړيت:(غا-ړيت)اسم- واحد- مذکر- چل- فريب- دوکه- ټګي-
غوځېدونکے:(غو-ځې-دون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع غوځېدونکي- مؤنث غوځېدونکې- وګورئ غوځېدل-
غوځېدهٔ:(غو-ځې-دهٔ)حاصلِ مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ غوځېدل-
غوبل:(غو-بِل)اسم- واحد- مذکر- (۱)غنبل- ګنبل- زمرزن غنے- لرمی- (۲)اورمل- فصل چې پخېدو ته نژدې وي-
غوبلے:(غو-بِ-لے)اسم- واحد- مذکر- د جووارو ووے چې په دېګ کښې پوخ شوے وي- شيرکے- شيرکی- (۲)بوکال- نباتاتي نوم سکچيرم سپليرے (SACCHARUM CILIARE)-
غور:(غور)اسم- واحد- مذکر- (۱)خيال- فکر- توجه- (۲)علاج- تدبير- خسمانه-
غور:(غور)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غړ-
غور:(غور)اسم صوت- د وريځې غرا- د غورېدو اواز- غړ-
غور:(غور)اسم- واحد- مذکر- (۱)انتخاب- برخه- قسمت- نصيب- (۲)ميراث-
غور:(غور)اسم- واحد- مذکر- پېغور-
غور:(غور)اسم- واحد- مذکر- پېنه- په واده خېرات وغېره کښې يوې مجمې ته د ناستو کسانو ډله چې عموماً څلور وي-
غورابه:(غو-را-به)اسم صوت- د اور د لمبو نه ختونکے اواز-
غوراپي:(غو-را-پې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- پوزې- لاف وګزاف- لاپې -زېرې-

زبر (ج-بيئه-ره)، زورکے (ښل)، زېر (ک-تاب)، پېښ (نو-کاسره)، جزم (شکون)، ه (ر-ره)، ئه (په-سې-دهٔ)

www.pukhto.net

غورازه:(غو-را-زه)اسم- واحد- مؤنث- دَ خاررو گيا-

غورازه:(غو-را-زه)اسم صفت- زور- لهٔ کاره وتلے- دَ ښې وتلے-

غوراګل:(غو-را-ګل)اسم- واحد- مؤنث- وچه لوندمه- هغه تر خاوره چې د ليو نه محکبنې پهٔ کوټه اچولے شي-

عورانداز:(غور-اَن-داز)اسم- واحد- مذکر- پژبژک-

غورانګه:(غو-رانګ-که)اسم- واحد- مؤنث- غورانګه- غُرانګه-

غوربېږ:(غور-بېږ)اسم- واحد- مذکر- هجوم- اژدحام- ګڼه ګونه- غوربېږی- غوربېږ- غوبېل- غوربېږے- غُربېږ- غوربېږو-

غوربند:(غور-بند)اسم صفت- غرمنځے- غروند- غرنېژه سيمه- کوهسار-

غوربوړی:(غور-بو-ړی)اسم- واحد- مؤنث- غلبوله- دَ سهيو پهٔ يو مخ دَ غپا اوازونه-

غوربېږو:(غور-بې-ږو)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غوربېږ-

غوربېږ:(غور-بېږ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غوربېږ-

غوربېږے:(غور-بې-ږے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غوربېږ-

غوربېل:(غور-بېل)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غوربېږ-

غوربېے:(غور-بېے)اسم- واحد- مذکر- دَ شيشو غټ بنګړے-

غورپېژ:(غور-پېژ)اسم صوت- غُرپېش- شور زوږ- غُرپېژ-

غورپېشي:(غور-پېشي)اسم- جمع- مؤنث- ديکې- دړکې- غُرپېشي-

عورت:(غو-رت)اسم- واحد- مذکر- سرګرداني- سرګرداني-

غورخکه:(غور-خهٔ-که)اسم- واحد- مؤنث- غُرخکه- سپرغی- بګرے- بڅرکے- (۲)لمبه- د اور شعله- د اور ژبې-

غورځنګ:(غور-ځنګ)اسم- واحد- مذکر- غرځنګ- جوش و خروش- غُرځنګ- (۱)دَ أبو جپې- مستي- ترپېدنه- (۲)پېهلو- حمله- کوانې- جمع غورځنګونه-

غورځنګول:(غور-ځنګ-که-وَل)مصدرِ متعدي- غټه کول- برید کول- حمله کول-

غورځنګون:(غور-ځنګ-که-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ غورځنګول-

غورځنګونکے:(غور-ځنګ-که-وون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع غورځنګونکي- مؤنث غورځنګونکې- وګورئ غورځنګول-

غورځنګونګ:(غور-ځنګ-که-وَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ غورځنګول-

غورځنګونه:(غور-ځنګ-که-وَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ غورځنګول-

غورځول:(غور-ځ-وَل)مصدرِ متعدي- غُرځول- غورزول- اړتاوول- ګزاروول- لره کول-

غورځولے:(غور-ځ-وَلے)اسمِ مفعول- واحد- مذکر- جمع غورځولي- مؤنث غورځولې- وګورئ غورځول-

غورځون:(غور-ځ-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ غورځول-

غورځونکے:(غور-ځ-وون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع غورځونکي- مؤنث غورځونکې- وګورئ غورځول-

غورځونګ:(غور-ځ-وَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ غورځول-

غورځونه:(غور-ځ-وَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ غورځول-

غورځېدل:(غور-ځي-دَل)مصدرِ لازم- اړتاوېدل- غُرزېدل- غُرځېدل-

غورځي:(غور-ځي)اسم- (۱)دَ پښو لاسونو بې ترتيبه حرکات چې دَ بې هوشي پهٔ حالت کښې کولے شي- (۲)غورځنګ-

غورځي پرځي:(غور-ځي-پر-ځي)اسم مرکب- کوشش- زيار- هڅه- وګورئ غرځي پرځي-

غورځے:(غور-ځے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غُرځي-

غورچ:(غورچ)صفت- دوړی مار- پوزمار- لاهو- لاپې- لاترن- غُرچے- غُرچ-

غورچه مړی:(غور-چه-مړی)اسم- واحد- مذکر- (۱)قهرژن اواز- (۲)غُرچېدنه- غرم غرم کونه-

غورچېدل:(غور-چي-دَل)مصدرِ لازم- غُرچېدل- غرمېدل- غرمبېدل- غرم غرم کول- درونډ اواز وېستل-

غورچېدن:(غور-چي-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ غورچېدل-

غورچېدنګ:(غور-چي-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ غورچېدل-

غورچېدنه:(غور-چي-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ غورچېدل-

غورچېدونکے:(غور-چي-دون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع غورچېدونکي- مؤنث غورچېدونکې- وګورئ غورچېدل-

غورچے:(غور-چے)صفت- غُرچے- غورچ- لاهو-

غوررسي:(غور-ر-سي)اسم- واحد- مؤنث- همدردي- پاپېکیرنه-

غوررنه:(غور-ر-نه)حاصلِ مصدر- غوررنه- خوررنه-

غورزانګے:(غور-زانګ-کے)اسم- واحد- مذکر- زغومے- ګرداب- چورلندے-

غورزنګ:(غور-زنګ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غورځنګ-

غورزول:(غور-ز-وَل)مصدرِ متعدي- غُرځول- اړتاوول- لره کول- ګزاروول- پرېښودل-

غورزولے:(غور-ز-وَلے)اسمِ مفعول- واحد- مذکر- جمع غورزولي- مؤنث غورزولې- وګورئ غورزول-

غورزون:(غور-ز-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ غورزول-

غورزونکے:(غور-ز-وون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع غورزونکي- مؤنث غورزونکې- وګورئ غورزول-

غورزونه:(غور-ز-وَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ غورزول-

غورزېدل:(غور-زي-دَل)مصدرِ لازم- وګورئ غورځېدل-

غورزېدلے:(غور-زي-دَلے)اسمِ مفعول- واحد- مذکر- جمع غورزېدلي- مؤنث غورزېدلې- وګورئ غورځېدل-

غورزېدن:(غور-زي-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ غورځېدل-

غورزېدنګ:(غور-زي-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ غورځېدل-

غورزېدنه:(غور-زي-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ غورځېدل-

غورزېدونکے:(غور-زي-دون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع غورزېدونکي-

ئ: (ځي-رل)، ي:(هي-ر-سول)، ی:(پهیا-لي)، ــې:(تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ: تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

مؤنث غورزبدونکې- وګورئ عورځېدل-

غورس:(غورس)صفت- سخت- ټینګ- مضبوط- ټیږ- غُرس-

غورسول:(غو-رفس-ول)مصدر متعدي- مضبوطول- ټینګول- ټېټول- غُرسول-

غورسون:(غو-رفس-ون)حاصل مصدر- وګورئ غورسول-

غورسونکے:(غو-رفس-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غورسونکي- مؤنث غورسونکې- وګورئ غورسول-

غورسونګ:(غو-رفس-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ غورسول-

غورسونه:(غو-رفس-وفسه)حاصل مصدر- وګورئ غورسول-

غورسېدل:(غو-رفسې-دل)مصدر لازم- ټینګېدل- مضبوطېدل- ټېټېدل- غُرسېدل-

غورسېدن:(غو-رفسې-دن)حاصل مصدر- وګورئ غورسېدل-

غورسېدنګ:(غو-رفسې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ غورسېدل-

غورسېدنه:(غو-رفسې-دفنه)حاصل مصدر- وګورئ غورسېدل-

غورسېدونکے:(غو-رفسې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غورسېدونکي- مؤنث غورسېدونکې- وګورئ غورسېدل-

غورسېدهٔ:(غو-رفسې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ غورسېدل-

غورغبت:(غور-غبت)اسم- واحد جمع- مذکر- غورغبت- لهولعب- فضول او بې ځایه خبرې-

غورغوړی:(غور-غو-ړی)اسم- واحد جمع- مؤنث- بوږبوړی- غلغلې- بړبوړکی- بوږبوړکی-

غورغوشتې:(غور-غوش-تې)اسم- جمع- مؤنث- دانګې- ترپکې- دانګوچې- منډې ترړې- فضول او بې ځایه ټوپونه- خرچکې وهنه- دانګونه او ټوپونه وهنه-

غورغوښتے:(غور-غوښ-تے)اسم- واحد- مذکر- اړوښتے- دَ بادام وُنه- نباتاتي نوم امګډېلس کمیونس اېل AMYGDALUS COMMUNIS L-

غورغې:(غور-غې)اسم- واحد- مؤنث- کړی- حلقه- دائره-

غورکمانه:(عور-کم-ما-نه)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غرکمانه-

غورکې:(غور-کې)اسم صوت- (۱)دَ پیشو خرړارے- (۲)اسم- واحد- مؤنث- دَ نفرت او پېغور خبرې- غُرکې-

غورک:(غورک)اسم- واحد- مذکر- غورکه- غورکه- غُرکه- کچه پنیر- غندل-

غورلنډسه:(عور-لن-ډفسه)اسم- واحد- مؤنث- دَ اور لویه شغله- غُرلنډسه-

غورله:(غور-له)صفت- لوې- عام طور سره د نیا نیکهٔ دَ صفت په طور-

غورله انا:(غور-له-آ-نا)اسم- واحد- مؤنث- غُره نیا-

غورلېزه:(غور-لې-زه)اسم- واحد/جمع- مذکر- دَ زېږ رنګ لرونکے یو ګل-

غورمچ:(غور-مچ)اسم- واحد- مذکر- غټ مچ- غوباړے- غُرمچ-

غورمشتې:(غور-مش-تې)اسم جمع- مؤنث- غُرمشتې- غورمشکې- پرزونې- انګتې- انډې- مستې- حرمستې- غوبمې- غوبمنه-

غورمکه:(غور-م-که)اسم- واحد- مؤنث- ګرمکه- په اوړي کښې دَ ګرمۍ له کبله په بدن راوتونکې نرۍ دانې چې په کښې شمېر کښې راخېژي- جمع غرمکې-

عورمنه:(عور-م-نه)اسم- واحد- مؤنث- دَ ناشپاتۍ دَ قسم یوه وُنه او دَ هغې مېوه- ناک- ناکه- نباتاتي نوم د پائرس پېشیا بېج (PIRUS PASHIA BACH) دَ خاندان یوه وُنه-

غورمنه:(غور-م-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ غورمنه-

عورمه:(غور-مه)اسم- واحد- مؤنث- قورمه-

غورمه واله:(غور-مه-وا-له)صفت- قورمه خرڅونکے-

غورندی:(غور-رن-دی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ خرخوړی-

عور نیکهٔ:(غور-نی-که)اسم- واحد- مذکر- تر نیکه- دَ نیکهٔ پلار یا نیکه- غر نیکه-

عورنداز:(غو-رن-داز)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غورېاز-

عورانډاز:(عو-رن-ډاز)اسم- واحد- مذکر- دَ ماشومانو پرپوکے- برلنډے- عورېداز-

عوروچېدل:(عورو-چې-دل)مصدر لازم- د عرمپا آواز پېدا کول- غرروچېدل-

عوروچېدن:(غورو-چې-دن)حاصل مصدر- وګورئ غوروچېدل-

عوروچېدنګ:(غورو-چې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ غوروچېدل-

عوروچېدنه:(غورو-چې-دفنه)حاصل مصدر- وګورئ غوروچېدل-

عوروچېدونکے:(عورو-چې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع عوروچېدونکي- مؤنث غوروچېدونکې- وګورئ غوروچېدل-

عورول:(غوفر-ول)مصدر متعدي- منتخب کول- ټاکل- (افغانستان)-

غوره:(غو-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ مستۍ په رخت دَ اوښ برړېدنه- (۲)لاتې شاټې- غُره-

غوره:(غو-ره)اسم- واحد- مؤنث- یوه سبزي چې عام طور سره کچه خوړے شي-

عوره:(غو-ره)اسم- واحد- مؤنث- کوک- نوې راوسېدلې مېوه-

عوره:(غو-ره)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)خوښ- ښه- بهتر- (۲)منتخب- ټاکلے-

عوره تېه:(غو-ره-تېه-به)متعلق فعل- ناګهانه- ناڅاپه- په بې خبرۍ کښې- عره تېه-

عوره چوڼ:(غو-ره-چوڼ)صفت- چوڼ شوے- منتخب شوے- دَ ښهٔ څیز انتخاب-

عوره ګل:(غو-ره-ګل)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ وُچه لوندہ-

غوره لم:(غو-ره-لم)اسم- واحد- مذکر- دَ غرهٔ یو بوټے چې لهٔ جرړو نه یې دَ زخم د پاره دارو جوړولے شي-

عوره نیا:(غو-ره-نیا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ غورله انا-

عورپاشه:(عور-یا-شه)اسم- واحد- مؤنث- پلوانبڼه- غرونډے-

عوریالے:(عور-یا-لے)صفت- (۱)ډېر مرۍ دَ غَر مریض- غُریالے- (۲)لاهو-

لاهو- لاهن- پوتې ویشتونکے-

غوریانے:(غور-یانے)اسم- واحد- مذکر- د غنم کچه ووږے-

غوریحه:(غو-ری-جه)اسم- واحد- مؤنث- خشاکې لرګے- یو قسم د سپږلو لرګے-

غوریخ:(غو-ریخ)صفت- غوره- ښه- بهترین-

غوربدل:(غو-ری-دل)مصدر لازم- وګورئ غوبدل-

غوربدل:(غو-رې-دل)مصدر لازم- پلېدل- پرسېدل-

غوربدلے:(غو-رې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع غورېدلی- مؤنث غورېدلې- وګورئ غورېدل-

غورېدلے:(غو-رې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع غورېدلی- مؤنث غورېدلې- وګورئ غورېدل-

غوریدن:(غو-ری-دن)حاصل مصدر- وګورئ غربدل-

غوریدن:(غو-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ غورېدل-

غوریدنګ:(غو-ری-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ غربدل-

غوربدنګ:(غو-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ غورېدل-

غورېدونکے:(غو-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غورېدونکي- مؤنث غورېدونکې- وګورئ غربدل-

غورېدونکے:(غو-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غورېدونکي- مؤنث غورېدونکې- وګورئ غورېدل-

غوربده:(غو-ری-ده)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ غوبدل-

غوربده:(غو-رې-ده)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ غورېدل-

غوریزه:(غو-ری-زه)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم ازغن بوټے چې نرې نرې غنې زیړ رنګه ګل او وړې پاڼې لری- عموماً د پسرلی موسم کښې کیږی- غوریزه-

غوریږ:(غو-ریږ)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ اشول ا-

غوریږه:(غو-ری-ږه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ غوریزه-

غورې:(غو-رې)اسم- واحد جمع- مؤنث- مجمه- غړی-

غورے:(غو-رے)اسم صفت- واحد- مذکر- انتخاب-

غورے:(غو-رے)اسم صفت- واحد- مذکر- مؤنث غورې- د غور لرونکے مریض- هغه څوک چې مرې ئ د غور په وجه پرسېدلي وی- غړے-

غوړ:(غوړ)صفت- (۱)روغن لرونکے- (۲)مالدار- دولتمند-

غوړ:(غوړ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غړ غوړ-

غوړ:(غوړ)اسم- واحد- مذکر- له کچو وازدې یا نورو داسې څیزونو نه حاصل شوے روغن-

غوړاښکه:(غو-ړاس-که)اسم- واحد- مؤنث- غوړاښکه- نباتاتي نوم ډوډونیا وسکوسه ال DODONALA VISCOSA L.-

غوړاښکے:(غو-ړاښ-کے)اسم- واحد- مذکر- یو غرنیز بوټے چې پاڼې ئې نرې نرې وی-

غوړاشه:(غو-ړا-شه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د تنبې سورے- غوړیاشه- (۲)پلواښه-

غوړانښه:(غو-ړان-ښه)اسم- واحد- مؤنث- لوکړنه لمبه- لوګے لرونکے غرغندہ- لمبه-

غوړانګه:(غو-ړان-ګه)اسم- واحد- مؤنث- د تمر پلوشه-

غوړانګے:(غو-ړانګ-کے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم غرنیز بوټے-

غوړلوو:(غو-ړا-وو)صفت- خوشامدګر- چاپلوس- چپروس- غوړېږے-

غوړب:(غو-ړب)اسم- واحد- مذکر- غړپ- ګوټ- غوړپ-

غوړبږن:(غو-ړبې-ږن)صفت- لږ شان غوړ- معمولی غوړ-

غوړبے:(غو-ړبے)صفت- خوشامندګر- خوشامدګر- چالاک-

غوړبی:(غو-ړبی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پېچک-

غوړپ:(غو-ړپ)اسم- واحد- مذکر- غوړپ- غړپ- ګوټ-

غوړپړ:(غوړ-پړ)صفت- (۱)ډېر غوړ- بالکل غوړ- (۲)ترو تازه- شانسته-

غوړپکه:(غوړ-پ-که)اسم- واحد- مؤنث- حادثه- سمدستي واقعه- جمع غوړپکي-

غوړپکی:(غوړ-پ-کی)اسم- واحد- مؤنث- برق- ځیږه- تتوره-

غوړپل:(غوړ-پل)مصدر متعدی- ګوټل- شومل- غړپول-

غوړپلے:(غوړ-پ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع غوړپلی- مؤنث غوړپلې- وګورئ غوړپل-

غوړپن:(غوړ-پن)حاصل مصدر- وګورئ غوړپل-

غوړپنګ:(غوړ-پنګ)حاصل مصدر- وګورئ غوړپل-

غوړپنه:(غوړ-پ-نه)حاصل مصدر- وګورئ غوړپل-

غوړپول:(غوړ-پ-ول)مصدر متعدی- په غړپ غړپ څښل- شومل- غوړپل-

غوړپون:(غوړ-پ-ون)حاصل مصدر- وګورئ غوړپول-

غوړپونکے:(غوړ-پون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غوړپونکی- مؤنث غوړپونکې- وګورئ غوړپل-

غوړپونکے:(غوړ-پ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غوړپونکی- مؤنث غوړپونکې- وګورئ غوړپول-

غوړپونګ:(غوړ-پ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ غوړپول-

غوړپونه:(غوړ-پ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ غوړپول-

غوړپیش:(غوړ-پیش)اسم- واحد- مذکر- تېزې خبرې- غصه- قهر-

غوړپېدل:(غوړ-پې-دل)مصدر لازم- ګوټل کېدل- په غړپ غړپ څښلے کېدل-

غوړپېدن:(غوړ-پې-دن)حاصل مصدر- وګورئ غوړپېدل-

غوړپېدنګ:(غوړ-پې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ غوړپېدل-

غوړپېدنه:(غوړ-پې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ غوړپېدل-

غوړپېدونکے:(غوړ-پې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع

ي: (ځي-ړل)، يٰ(هي-وه-ول)، ى(پيا-لي)، یے(تن-دیے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

غوړېدونکی- مؤنث غوړېدونکې- وګورئ غوړېدل-

غوړېدۀ:(غوړ-ېي-دۀ)حاصلِ مصدر او دَ ماضي استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ غوړېدل-

غوړېکے:(غوَړ-ېي-کے)صفت- خوال ملګ چې دَ سر وېښته يې ساتلی وی- څټوکمار-

غوړتپے:(غوَړ-تـه-پے)اسم- واحد- مذکر- هغه غوړ داغ چې دَ غوړوا دَ پاسه ګرځي- سرسرے- سرسر- بوټځورے- پځرے- ستوری ستوری-

غوړتر:(غوَړ-تر)صفت- غټ پټ- خرب- ځورب- صحتمند- تروتازه-

غوړخکه:(غوړ-خه-که)اسم- واحد- مؤنث- دَ اور شغله- دَ اور لمبه- غږخانګه-

غوړخولے:(غوړ-خو-لے)صفت- دُ خوراک شوقين- ګېډه ور- غوړخلے-

غوړدانګه:(غوړ-دانګ-که)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ غړدانګه-

غوړزاپے:(غوړ-زا-پے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم کورنۍ مټانی-

غوړزګے:(غوَړ-ز-ګے)اسم- واحد- مذکر- وازده- وازګه- چربي-

غوړزنګ:(غوړ-زنګ)اسم- شکنه- ساړه توده- ټور ولګي-

غوړزون:(غوړ-زون)اسم- واحد- مذکر- غوړوالے- غوړ-

غوړژبتيا:(غوَړ-ژب-تيا)اسم- واحد- مؤنث- په ژبه ځټل کونه- چل ول- مکر-

غوړژبے:(غوَړ-ژۀ-بے)صفت- چې په ژبه ځټل کوی- مکرژن- خوږژبان- خوږژبے-

غوړسترګے:(غوړ-سټر-ګے)صفت- دُ ښائسته سترګو والا-

غوړ سرے:(غوَړ-سه-ړے)صفت- مالدار- مالدار- دولتمن-

غوړسکه:(غو-ړس-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ لوګی يا وريخ مرغوله- غړوسکه- غورشکه- (۲)ګڼ فصل- (افغانستان)-

غوړشکه:(غوَړ-شۀ-که)اسم- واحد- مؤنث- ګڼه کونه- پېره ګڼه-

غوړکے:(غوم-ړم-کے)اسم تصغير- (۱)شنه ګانګه- لښته- (۲)دَ بوټو يو مرض چې په پاڼو لګي او وچوی يې- (۲)يو قسم بوټے چې په وَنو خېژی- کڼے- جنجرے- بېرختونے-

غوړکه:(غوړ-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱) دَ وَنې يا دَ بوټي دَ ګانګې په سر کښې نوې ټوکېدلې پاڼې چې لا پوره خورې شوې نۀ وی- هغه بوټے چې نوې پاڼې يې کړې وی- (۲)يو قسم واښۀ-

غوړکه:(غوړ-که)اسم- واحد- مؤنث- پنډی- سپينه- پرکے-

غوړکی:(غوړ-کی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- پروستی- پله- پلے- غوړکے-

غوړکے:(غوړ-کے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم سخت غُندې پانړی لرونکے بوټے چې په شاړو کښې کېږی ګلونه هُم نيسي-

غوړکے:(غوړ-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غوړکی-

غوړلاسے:(غوَړ-لا-سے)صفت- ګټه رسوونے-

غوړلانه:(غوړ-لا-نه)اسم- واحد- مؤنث- د خاورې دلسې لوښے چې دَ پاسه پرې غوړ جذب کېږی-

غوړلستونے:(غوَړ-لس-تو-نے)صفت- (۱)اعتباری- باوری- (۲)موړ- ښتمن- مالدار- دولتمن-

غوړلوښے:(غوَړ-لو-ښے)صفت- داسې سړے چې نصيحت پرې اثر نۀ کوی-

غوړلی:(غوَړ-لی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دَ جوارو وږے چې لا دانه يُ نۀ وی نيولې-

غوړمال:(غوَړ-مال)صفت- خوشامدګر- چاپلوس- بوس بـادو- چاپړوس- (۲)اسم- واحد- مذکر- په ډېر مقدار دولت- (۲- صفت)ښائسته جينۍ يا هلک-

غوړمالی:(غوَړ-ما-لی)اسم- واحد- مؤنث- خوشامدګری- چاپلوسی- چېروسی- چاپړوسی- خوشامد- لاپې- مکر- فريب-

غوړمبه:(غو-ړم-به)اسم- واحد- مؤنث- غوړانخه- غوړنجه لمبه-

غوړمخے:(غوَړ-مه-خے)صفت- (۱)ښکلے- پېمخے- خوش پوش- (۲)خوش قسمته- خوش نصيبه- ښۀ نصيبے- جمع غوړمخی-

غوړمرغه:(غوَړ-مر-غه)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم واښۀ چې دَ ګـندنې په شان هر وخت تروتازه وی- غوړمرغی-

غوړمرغی:(غوَړ-مر-غی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ غوړمرغه-

غوړمريجه:(غوَړ-مـر-ی-جه)اسم- واحد- مؤنث- هغه غوا وغيره چې په وروميی خل لنګه شوې وی- اوړمخيزه-

غوړمنګے:(غوَړ-منګ-ګے)صفت- (۱)وګورئ غوړلوښے- بې حياء چې خبره پرې اثر نۀ کوی- چې نصيحت پرې اثر نۀ کوی- (۲)اسم- کنګال کړے يا وېنځلے مولے-

غوړمېچک:(غوړ-مي-چک)صفت- غوړ غندې- غوړ شان- غوړېژن- غوړېځن-

غوړمېچن:(غوړ-مي-چن)صفت- (۱)غوړمېچک- غوړ غندې- (۲)دَ غوړ په وجه خيرن- غوړمېځن-

غوړمېځن:(غوړ-مي-ځن)صفت- (۱)غوړ غندې- (۲)خيرن- وګورئ غوړمېچن-

غوړمين:(غوړ-مه-ين)صفت- مؤنث غوړمينه- هغه کاروے يا سړے چې وازده پکښې پېره وی-

غوړنجاوه:(غوړن-جا-وه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ غوړنجه-

غوړنجه:(غو-ړن-جه)اسم- واحد- مؤنث- غوړخکه- غوړانجه لمبه- غوړمبه ژبې- غوړنجاوه- دَ اور وَچته لمبه-

غوړنځے:(غو-ړن-ځے)اسم- واحد- مذکر- دَ زيرغوځو وَنه- دَ صنوبر وَنه- نباتاتی نوم دَ پاره وګورئ صنوبر-

غوړندے:(غو-ړن-دے)اسم- واحد- مذکر- جمع غوړندی- (۱)غړوندے- (۲)پلوانه- (۳)پټی- جمع غوړندی-

غوړ نيکۀ:(غوړ-نی-کۀ)صفت- غور نيکۀ- وړ نيکۀ- دَ مور پلار نيکۀ-

غوړواښۀ:(غوَړ-وا-ښۀ)اسم- واحد- مذکر- تروتازه واښۀ-

غوړوکی:(غوَ-ړو-کی)اسم- واحد- مؤنث- کلی- غټی-

غوړول:(غوم-ړم-ول)مصدر متعدی- په څۀ څيز غوړی يا تېل لګول- دَ روغنی څيز، غوړو يا دَ تېلو مالش ورکول-

زبر"(ج-مـثـر-ه)، "زورکے"(شل)، "پېش"(تو-مكـاسره)، "زير"(ك-تـاب)، "جزم"(شكـون)، "ه"(زړه)، "ۀ"(پو-هي-دۀ)

www.pukhto.net

غوړول:(غوړ-رَ-وَل)مصدر متعدی- خوړول- ویږول-

غوړولے:(غوړ-رَ-وَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع غوړولی- مؤنث غوړولې- وګورئ غوړول-

غوړون:(غوړ-رَ-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ غوړول-

غوړونکے:(غوړ-رَ-وُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غوړونکی- مؤنث غوړونکې- وګورئ غوړول-

غوړونګ:(غوړ-رَ-وَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ غوړول-

غوړونه:(غوړ-رَ-وَ-نَه)حاصلِ مصدر- وګورئ غوړول-

غوړونے:(غوړ-رَ-وُو-نے)اسم فاعل- جمع غوړوني- وګورئ غوړول-

غوړوۀ:(غوړ-رَ-وۀ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ غوړول-

غوړه:(غوړ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ترمه خبره- پسته وینا- (۲)صفت- دَ غوړ مؤنث-

غوړه تره:(غوړ-رَ-تَ-ره)صفت- (۱)پسته- تیزه- (۲)پۀ خوراک-

غوړه بخه:(غوړ-رَ-بَښَ-خه)اسم صفت- واحد- مؤنث- ښائسته ښځه-

غوړه مال:(غوړ-رَ-مال)صفت- وګورئ غوړمال/غوړلا-

غوړه مالی:(غوړ-رَ-ما-لي)اسم- واحد- مؤنث- خوشامنده-

غوړ ملک:(غوړ-مَ-لک)اسم- واحد- مذکر- ښائسته ملک-

غوړی:(غوړ-ړی)اسم- واحد/جمع- مذکر- غوړ- لۀ وازدې، کُچو یا نباتاتو نه حاصلېدونکی روغن-

غوړیاشه:(غوړ-یا-شه)اسم- واحد- مؤنث- غړیاسه- غوړاشه- غړاشه- کاج- دَ تنی سورے-

غوړیالے:(غوړ-یا-لے)اسم صفت- واحد- مذکر- تږوقی- تږوتمار- (۲)پۀ غوړو خبرو- (افغانستان)-

غوړیانګکی:(غوړ-یانګ-کی)اسم- واحد- مؤنث- دَ سوسن ګل-

غوړیانه:(غوړ-یا-نه)اسم- واحد- مؤنث- دَ سوسن دَ ګل یو قسم- غوړ یانۍ-

غوړیانۍ:(غوړ-یا-نۍ)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ غوړیانه-

غوړیخې:(غو-ړی-خې)اسم- کمې کورې زلفې- کولکوټې (کالکوټی) خنې-

غوړیږه:(غوړ-ړی-ږه)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم والبنۀ غُړیږه- غړیږه-

غوړیشه:(غوړ-ړی-شه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وګورئ غړاشه- (۲)کولکوټی وبښته-

غوړیکه:(غوړ-ړی-که)اسم- واحد- مؤنث- پیښه- حادثه-

غوړی مست:(غوړ-ړی-مست)اسم- کنوچه- کنچه- یو قسم دارو چې د بوټی نه جوړولے شی-

غوړینی:(غوړ-ړی-نی)صفت- دَ پیو کټوی چې پۀ پخېږې تودوی او دَ پیو دَ رجې غوړه شوې وی-

غوړې ترې:(غوړ-ړې-ترې)اسم مرکب- مؤنث- خوشامندې- چاپلوسی-

غوړېخن:(غوړ-ړې-خن)اسم صفت- وګورئ غوړمیچک-

غوړېدل:(غوړ-ړې-دَل)مصدر لازم- (۱)پۀ روغنی څیز یعنی تېلو یا غوړو وغیره باندې مالش کېدل- (۲) خربېدل- (۳)خوربېدل- ویږېدل- (۴)سپړدلے کېدل- غټې ګل کېدل-

غوړېدلے:(غوړ-ړې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع غوړېدلی- مؤنث غوړېدلې- وګورئ غوړېدل-

غوړېدن:(غوړ-ړې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ غوړېدل-

غوړېدنګ:(غوړ-ړې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ غوړېدل-

غوړېدنه:(غوړ-ړې-دَ-نَه)حاصلِ مصدر- وګورئ غوړېدل-

غوړېدونکے:(غوړ-ړې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غوړېدونکی- مؤنث غوړېدونکې- وګورئ غوړېدل-

غوړېدۀ:(غوړ-ړې-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ غوړېدل-

غوړېژن:(غوړ-ړې-ژن)اسم صفت- وګورئ غوړمیچک-

غوړے:(غوړ-ړے)اسم- واحد- مذکر- هغه پټې چې دَ پښې لۀ سهینو چاپېرولے شی- غړے- غړی-

غوړ:(غوړ)اسم- واحد- مذکر- هغه پرده یا وازده چې دَ کولمو نه تاو راتاو وی-

غوز:(غوز)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غُز-

غوزار:(غو-زار)صفت- غزار- (۱)غورزولے شوے-غُرځولے- (۲)اسم- واحد- مذکر- ګوزار- حمله-

غوزارول:(غو-زا-رَ-وَل)مصدر متعدی- غُزارول- ارتاوول- غورزول- غرځول-

غوزارون:(غو-زا-رَ-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ غُزارول-

غوزارونکے:(غو-زا-رَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غوزارونکی- مؤنث غوزارونکې- وګورئ غُزارول-

غوزارونګ:(غو-زا-رَ-وَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ غُزارول-

غوزارونه:(غو-زا-رَ-وَ-نَه)حاصلِ مصدر- وګورئ غُزارول-

غوزارېدل:(غو-زا-رې-دَل)مصدر لازم- غُزارېدل- پرېوتل- ارتاوېدل- ارتاوېدل- غرځېدل-

غوزارېدن:(غو-زا-رې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ غوزارېدل-

غوزارېدنګ:(غو-زا-رې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ غُزارېدل-

غوزارېدونکے:(غو-زا-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غوزارېدونکی- مؤنث غوزارېدونکې- وګورئ غوزارېدل-

غوزارېدنه:(غو-زا-رې-دَ-نَه)حاصلِ مصدر- وګورئ غوزارېدل-

غوزارېدۀ:(غو-زا-رې-دۀ)حاصلِ مصدر- وګورئ غوزارېدل-

غوزاړے:(غو-زا-ړے)اسم- واحد- مذکر- غوزانے- غوزانه- غوزکرکے-کونګټ چې دَ سوټو غنډارې رغړوی-

غوزانه:(غو-زا-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ غوزاړے-

غوزانے:(غو-زا-نے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غوزاړے-

ی- (ځی-رِل)، ې-(مې-رَ-مَ-وَل)، ئ-(پیا-لئ)، ے-(تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

عوربه:(عور-به)اسم- واحد- مؤنث- تېرې تېرې پاڼې لرونکې يوه ونه-

عوورے:(عو-ره-رے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ چيلى دَ غرمنې يو چينجے- (۲)د دغه چينجى لۀ وجې د چيلى د غرمن عيب چې پۀ مشک کښې سورے پېدا کوى-

عوزه:(غو-زه)اسم- واحد- مؤنث- دَ پومبې غول- پروپه- دَ پومبې غُټه- دَ وريښم دَ چينجو غوزه- جمع غوزې-

غوزه کرکے:(غو-زه-کر-کے)اسم- واحد- مذکر- جمع غوزکرکى- وګورئ غوزاړے-

غوزې:(غو-زې)اسم- جمع- مؤنث- داړى- دَ اېو داړې-

غوزے:(غو-زے)اسم- واحد- مذکر- (۱) ترخ- تخرګ- (۲)دَ څۀ څيز دومره مقدار چې پۀ ترخ کښې راشى-

عوزے:(عو-زے)اسم- واحد- مذکر- کېږے- پنو-

عوزے:(عو-زے)اسم- واحد- مذکر- يو وړوکے شان چينجے چې د کډو او بزو غرمن پورې انښتے وى- وګورئ غورزے-

غوژګه:(غوژ-ګه)اسم- واحد- مذکر- توکانه-

عوژه:(غو-ژه)صفت- غوېږه- مضبوط- محکم- پائېدار- وګورئ غوړژه-

غوژه:(غو-ژه)اسم- واحد- مذکر- يو قسم بوټے- توره مرغه- غُټه ګل-

عوژه ور:(غو-ژه-ور)اسم- واحد- مذکر- د يو بوټى نامه-

عوژے:(غو-ژے)اسم- واحد- مذکر- لوئ مشک-

غوږ:(غوږ)اسم- واحد- مذکر- دَ انسان يا دَ حيوان هغه اندام چې خبرى پرې اورى- د سماعت اندام- جمع غوږونه-

عوږاېستل:(غوږ-اېس-تل)مصدر لازم- غوږبانسل- دَ چا خبرې پۀ پټه اورېدل-

غوږاېستلے:(غوږ-اېس-تۀ-لے)اسم معمول- واحد- مذکر- جمع غوږاېستلى- مؤنث غوږاېستلې- وګورئ غوږاېستل-

غوږاېستن:(غوږ-اېس-تن)حاصلِ مصدر- وګورئ غوږاېستل-

غوږاېستنګ:(غوږ-اېس-تنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ غوږاېستل-

غوږاېستنه:(غوږ-اېس-تۀ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ غوږاېستل-

عوږاېستونکے:(عوږ-اېس-تون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غوږاېستونکى- مؤنث غوږاېستونکې- وګورئ غوږاېستل-

غوږاېښونے:(غوږ-اي-ښو-نے)صفت- منونکے- خبره اوربدونکے- فرمانبردار-

غوږباسل:(غوږ-با-سل)مصدر متعدى- غوږاېستنه کول- غوږوړنه کول- غوږوارى کول- د چا پټو خبرو ته پۀ پټه غوږ نيول-

غوږباسلے:(غوږ-با-سۀ-لے)اسم معمول- واحد- مذکر- جمع غوږباسلى- مؤنث غوږباسلې- وګورئ غوږباسل-

غوږباسن:(غوږ-با-سن)حاصلِ مصدر- وګورئ غوږباسل-

عوږباسنګ:(غوږ-با-سنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ غوږباسل-

غوږباسنه:(غوږ-با-سۀ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ غوږباسل-

غوږباسونکے:(غوږ-با-سون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غوږباسونکى- مؤنث غوږباسونکې- وګورئ غوږباسل-

غوږباسے:(غوږ-با-سے)اسم- واحد- مذکر- غوږکارنه- دَ چا خبرو ته پۀ پټه غوږ نيونه-

غوږبوچے:(غوږ-بو-چے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ ماشومانو يوه لوبه- (۲)صفت- غوږپربکړے-

غوږبوڅے:(غوږ-بو-څے)اسم- واحد- مذکر- پس پسے- سرګوشى-

غوږپربکړے:(غوږ-پرې-کړ-ړے)صفت- بوڅے- بونډے-

غوږتاؤ:(غوږ-تاؤ)اسم- واحد- مذکر- ګوشمالى- غوږتاوے-

غوږتاوے:(غوږ-تا-وے)اسم- واحد- مذکر- (۱)غوږتاؤ- غوږمروړے- غوږ راکښنه- ګوشمالى- ګوشمالى- (۲)ادب ښښنه-

غوږتومبنے:(غوږ-توم-بۀ-نے)اسم- واحد- مذکر- هغه آله چې دَ غوږ نه پرې خيرى وباسى- غوږړنى-

غوږکار:(غوږ-کار)صفت- دَ چا خبرو ته غوږ نيونکے- متوجه-

غوږکارنه:(غوږ-کا-رۀ-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ غوږباسے-

غوږدارل:(غوږ-دا-رل)مصدر- دَ چا پټو خبرو ته غوږ نيول- دَ چا پټې خبرې اورېدل-

غوږدارنه:(غوږ-دا-رۀ-نه)حاصلِ مصدر- دَ چا پټې خبرې پۀ پټه اورېدنه- غوږدارى-

غوږدارى:(غوږ-دا-رى)اسم- غوږلوګه- دَ چا خبرو ته پۀ پټه غوږ کېښودنه- غوږدارنه-

غوږسار:(غوږ-سار)صفت- واحد- مذکر- عجيبه- نادر- ناآشنا-

غوږکى:(غوږ-کى)اسم- واحد/جمع- مؤنث- پس پسے- سرګوشى- غوږبوڅے- غوږکے-

غوږکے:(غوږ-کے)اسم- وګورئ غوږکى-

غوږمروړے:(غوږ-مرو-ړے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غوږتاوے-

غوږمک:(غوږ-مک)اسم- واحد- مذکر- يو مهلک مرض چې دَ غوږ شا ته پېدا کيږى-

غوږمکه:(غوږ-مۀ-که)اسم- واحد- مؤنث- اوږمکه- سهوږمى-

غوږمبوړے:(غوږ-مۀ-بو-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ غوږ دَ شا هډوکے- (۲)دَ چرګانو دَ غوږونو دَ شا بڼې-

غوږن:(غوږ-ږن)صفت- واحد- مذکر- (۱)دَ غوږونو خاوند- (۲)پۀ څۀ خبره اګاه- خبردار-

غوږندرويه:(غوږ-ږند-رو-يه)اسم- غوږاېستونے- هغه څوک چې دَ چا خبرې ته پۀ پټه غوږ ږدى-

غوږنيولې:(غوږ-نى-و-لې)اسم صفت- واحد- مؤنث- وينزه- پۀ بيعه اخستې سخه-

غوږنيوى:(غوږ-نى-وى)اسم- واحد- مؤنث- غوږاېستنه-

غوږنيوے:(غوږ-نى-وے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غوږباسے-

www.pukhto.net

غوړو:(غوَه-ړو)صفت- دَ لويو غوړوبو خاوند- غوړور-

غوړوَر:(غوه-ړه-ور)صفت- واحد/جمع- مذکر- وګورئ غوړو- په غوړوبو تېر چې معمولي خبره هم اوري-

غوړوره:(غوه-ړه-ورَ-ره)اسم- واحد- مؤنث- دَ غوړونو تونې- حولی-

غوړوکے:(غوه-ړو-کے)اسم- واحد- مذکر- د ګادر يا د غوَمدي ګټ-

غوړول:(غوه-ړه-ول)مصدر متعدي- خبره غوږ ته وررسول- وراوړول-

غوړون:(غوه-ړه-ون)حاصل مصدر- وګورئ غوړول-

غوړونکے:(غوه-ړه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غوړونکي- مؤنث غوړونکې- وګورئ غوړول-

غوړونګ:(غوه-ړه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ غوړول-

غوړونه:(غوه-ړه-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ غوړول-

غوړباسل:(غوږ-باس-ل)مصدر متعدي- غوږ اېښودل- غوړباسل-

غوړيز:(غوَه-ريز)صفت- واحد- مذکر- (۱)د تېرو غوړوبو خاوند- (۲)د لويو غوړونو خاوند-

غوړين:(غوه-رين)اسم- واحد- مذکر- (۱)پولس وزے ټوپک- سرپوښ ټوپک- (۲)صفت- بېرغوړے-

غوړېدل:(غوه-رې-دل)مصدر لازم- خبرېدل- واقف کېدل-

غوړېدن:(غوه-ړې-دن)حاصل مصدر- وګورئ غوړېدل-

غوړېدنګ:(غوه-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ غوړېدل-

غوړېدنه:(غوه-رې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ غوړېدل-

غوړېدونکے (غوه-ړې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غوړېدونکي- مؤنث غوړېدونکې- وګورئ غوړېدل-

غوړېدهٔ:(غوه-ړې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ غوړېدل-

غوړۍ:(غوه-ړۍ)اسم- واحد- مؤنث- کټوي- لويه کټوي-

غوړۍ:(غوه-ړۍ)اسم- واحد- مؤنث- پس پسے-

غوسکے:(غوس-کے)اسم- واحد- مذکر- سخوندر- وګورئ غُڅکے-

غوشاک:(غو-شاک)اسم- واحد- مذکر- غوشيا-

غوشائ:(غو-شائ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غوشيا-

غوشايه:(غو-شا-يه)اسم- واحد/جمع- مذکر- وګورئ غوشيا-

غوشايهٔ:(غو-شا-يهٔ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غوشيا-

غوشپے:(غوش-پهٔ-پے)صفت- غشيان پولوکے-

غوشو:(غو-شو)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غوشيا-

غوشوړے:(غو-شهٔ-وړے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غوشيا-

غوشه:(غو-شه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)غوشيا- (۲)غوشه- کـنـکورے- کـنکرچے-

غوشئ:(غو-شئ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غوشيا-

غوشيا:(غوش-يا)اسم- واحد- مذکر- غوشوړے- غُشايه- غوشانه- غوشئ- غوشو- غوشيارے- غوشاک- غوشائ- غوشيه- غوشه- د غوا مېښې يا نورو څارو هغه غُمله چې وچه شي-

غوشيارے:(غوش-يا-ړے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غوشيا-

غوشيه:(غوش-يه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ غوشيا-

غوشېر:(غو-شېر)اسم- واحد- مذکر- (۱) غوجل- د غوشيانو ځائ- (۲)ناولے ځائ- ګنده ځائ-

غوشۍ:(غو-شۍ)اسم- واحد- مؤنث- (۱) نرۍ ملا- وړه شا- (۲)دَ دَوو غرونو ترمينځه تنګه لار-

غوشے:(غوشے)اسم- واحد- مذکر- دَ غوا مېښې يا نورو څارو غُمله- غوشاک- غوشيا-

غوښت:(غوښت)اسم- واحد- مذکر- غښت- غوښتنه- غښتنه- سوال- طلب- حاجت- ضرورت-

غوښت:(غوښت)اسم- واحد جمع- مذکر- د شموخې په شان دَ نريو نريو دانو يوه غله چې زيات تر دَ مرغو خوراک ګڼلے شي دَ باجرې نه يې دانه نرۍ وي- ساباتي موم هے ني کم اتاليکم (PANKUM ITALKUM)-

غوښتل:(غوښ-تل)مصدر متعدي- وګورئ غُښتل-

غوښتلے:(غوښ-تَه-لے)اسم مفعول- جمع غوښتلي- مؤنث غوښتلې- وګورئ غوښتل-

غوښتنه:(غوښ-تَه-نه)اسم- واحد- مؤنث/حاصل مصدر- وګورئ غُښتنه-

غوښتونے:(غوښ-تو-نے)صفت- وګورئ غښتل- غُښتونے-

غوښته:(غوښ-ته)اسم- واحد- مؤنث- غښته- خواهش- دعویٰ- جمع غوښتې-

غوښکے:(غوښ-کے)اسم- واحد- مذکر- د ليندۍ پښتۍ- پښاس- پښاره- پښاق- پښاغ-

غوښلن:(غوښ-لن)صفت- مذکر- غټ- څرب- غوښن- تيار- غوښه ور- غوښين- غوښور-

غوښن:(غو-ښن)صفت- مذکر- وګورئ غوښلن-

غوښور:(غو-ښه-ور)صفت- مذکر- (۱)وګورئ غوښلن- (۲)مالداره- (عاميانه)-

غوښه:(غو-ښه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ ځناورو دَ هډوکو نه چاپېره پسته ماده- (۲)مال متاع- (عاميانه)- جمع غوښې-

غوښه ور:(غو-ښه-ور)صفت- مذکر- (۱)وګورئ غوښلن- (۲)مالداره- (عاميانه)-

غوښه ورتوب:(غو-ښه-ور-توب)اسم- واحد- مذکر- غوښه ورتيا- ښلنېتوب- چاغوالے- څرب والے-

غوښه ورتيا:(غو-ښه-ور-تيا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ غوښه ورتوب-

غوښين:(غو-ښين)صفت- مذکر- وګورئ غوښلن-

غوغا:(غو-غا)اسم- واحد- مؤنث- شور فرياد- شور زوږ- ژړا انګولا- هنګامه- فرياد-

غوغو:(غو-غو)اسم- جمع- جماع- بد فعلي-

ګ" (ګی-رل)، ئ"(ئي-ومول)، ی"(ېيا-لي)، ے"(تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

غوغو:(غَو-غَو)اسم صوت- دَ سپی دَ غپا اواز-
غول:(غول)اسم- واحد- مذکر- (۱)چوره- (۲)صفت- دَ غنمو دَ بوری دَ خلې دَ پرانستے کېدو او دَ غنمو دَ توئېدو حالت-
غول:(غول)اسم- واحد- مذکر- (۱)جماعت- گـنـډه- پله- غنډه- دَ سړو جورمه- جمعیت- لښکر- سېل-
غول:(غول/غه-وَل)مصدر- چاسره بد فعلی کول- جماع کول- غو کول- غوول-
غول:(غَول)اسم- یو فرضی خوفناک پرونکے وجود، دېوان، پیریان وغېره-
غولاټے:(غو-لا-ټے)صفت- واحد- مذکر- ویرېدونکے- پړن- تېزن- غولن- پارن- جمع غولاټیان/غولاټی-
غولان:(غَو-لان)اسم- جمع- مذکر- (۱)دَ غول جمع- پیریان- (۲)وحشیان- (۳)حرام زادگان-
غولانخ:(غو-لانخ)اسم- واحد- مؤنث- دَ غوا مېښې وغېره دَ پیو ورکولو اندام- د حېوان تنینه/تیان- سینه- غولانخه-
غولانخه:(غو-لان-خه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وګوری: غولانخ- (۲)دَ څاروو دَ خوراک یو قسم واښهٔ چې آبی رنګ ګل نیسی-
غولاون:(غو-لا-وَن)صفت- مذکر- (۱)وګوری: غلاټے- (۲)ماشوم-
غولبند:(غول-بند)اسم- واحد- مذکر- یوه لوبه-
غولبنګی:(غول-بنګ-ګی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دَ متیازو کولو ځایْ بیت الخلا- تټی-
غولبه:(غول-به)اسم- واحد- مؤنث- قلبه- جمع غولبې-
غولتیا:(غول-تیا)اسم- نامردی- نامردی- بې غېرتی-
غولتی:(غول-تی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- فرېب- ټګی- غلا سره یو ځایْ استعمالیږی-
غولغوله:(عول-غو-له)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: غلغله-
غولک:(غو-لک)اسم- واحد- مذکر- ګلک- دَ پېسو دَ جمع کولو ځایْ- کېش بکس- جمع غولکونه-
غولکه:(غول-که)اسم- واحد- مؤنث- پهٔ کېتو کنکرو کېدونکې یوه لوبه-
غولکورے:(غول-کو-رے)اسم- واحد- مذکر- لویْ پنډه- دَ غوږ شا ته ځایْ- اجلخے- جمع غولکوری-
غولمرګ:(غول-مرګ)اسم- واحد- مذکر- پهٔ زخم کښې دننه پیپ او ګندګی-
غولن:(غو-لن)صفت- واحد- مذکر- (۱)پېر غُل کوُنکے- (۲)ویرېدونکے- بزدل- غلاټے- پړن- تېزن-
غولنج:(غو-لنج)اسم- واحد- مذکر- هغه درد چې دَ قولون پهٔ کولمه کښې پېدا کیږی- (د قولنج مغفن)-
غولنکې:(غو-لن-کې)اسم- واحد/جمع- مؤنث- یو قسم ننکی چې پهٔ سترګه راځیږی- غلنکې؛ غولنګ- غولنګه- غولنه-
غولنګ:(غو-لنګ)اسم- واحد- مذکر- وګوری: غولنکې- غولنه-
غولنګه:(غو-لنګ-که)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: غولنکې-

غولنه:(غو-لۀ-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وګوری: غولنکے- (۲)صفت- مؤنث- د غولن مؤنث-
غول وغال:(غول-و-غال)اسم- واحد- مذکر- هجوم- ازدحام- شورماشور-
غولول:(غو-له-وَل)مصدر متعدی- دوکه کول- دوکه ورکول- ټګی کول-
غولولے:(غو-له-وۀ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع غولولی- مؤنث غولولې- وګوری: غولول-
غولون:(غو-له-وَن)حاصل مصدر- وګوری: غولول-
غولونکے:(غو-له-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غولونکی- مؤنث غولونکې- وګوری: غولول-
غولونګ:(غو-له-وَنګ)حاصل مصدر- وګوری: غولول-
غولونه:(غو-له-وۀ-نه)حاصل مصدر- وګوری: غولول-
غولوونکې:(غو-له-وُون-کې)اسم- واحد- مؤنث- (۱)غُلنکې- غولنکې- غولنګ- (۲)دَ غولونکے مؤنث-
غولوهٔ:(غو-له-وهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګوری: غولول-
غوله:(غو-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)شاتیر- (۲)ګوله- ګرګه- برغنډے- غنډ منډ لرګے- (۳)دَ پنیر اندازه کولو پیمانه جمع غولې-
غوله:(غو-له)تکیه کلام وګوری: غَلَه/غَلے- دَ مخاطبې توربے (عامیانه)-
غوله کمانه:(غو-له-کم-ما-نه)اسم- واحد- مؤنث- غورکمان- غُرکمان- کمان- دَ وربې ژی لروُنکې لیندهٔ- دَ غشی لیندهٔ-
غولیج:(غو-لیج)صفت- واحد- مذکر- غلیج- زوره ور- قوی- توانا- سپکمن-
غولی ناسته:(غو-لی-ناس-ته)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پهٔ غولی کښې ناسته- (۲)مجلس- محفل- مېلس- (۳)اتفاق- (۴)پېې لرته- (دَ ولادهٔ یو رسم)-
غولېدل:(غو-لې-دَل)مصدر لازم- دوکه کېدل- فرېب کښې ګېرېدل-
غولېدن:(غو-لې-دَن)حاصل مصدر- وګوری: غولېدل-
غولېدنګ:(غو-لې-دَنګ)حاصل مصدر- وګوری: غولېدل-
غولېدنه:(غو-لې-دۀ-نه)حاصل مصدر- وګوری: غولېدل-
غولېدونکے:(غو-لې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غولېدونکی- مؤنث غولېدونکې- وګوری: غولېدل-
غولېدهٔ:(غو-لې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګوری: غولېدل-
غولی:(غو-لی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)لویه رله- غټ لښتے- (۲)ګرداؤ- ګرداب- ځرخکو- غړومی-
غولی:(غو-لی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دَ کور کرایه-
غولی غولی:(غَو-لی-غَو-لی)صفت- (۱)چپې چپې- چپې دَ پاسه چپې- (۲)پلی پلی-
غولے:(غو-لے)اسم- واحد- مذکر- (۱)انګړ- دَ کور دننه دَ کوټو مخې ته میدان- صحن- میدان- (۲)حویلی-

www.pukhto.net

غولے:(غو-لے)صفت- واحد- مذکر- نامرد- نامرد- بې غيرته سړے- دَ بناغلے ضد-
غولے:(غو-لے/غه-وَلے)صفت/معمول- وګورئ غول-
غوماشه:(غو-ماشه)اسم- واحد- مؤنث- ماشے- جمع غوماشې-
غومبار:(غوم-بار)اسم- واحد- مذکر- (۱)کثيف لوګے- (۲)داسې اواز چې تميز ئې نهٔ کيږي- غُمبر- غُمبار-
غومباره:(غوم-باره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وړوکې توپه- (۲)پړسوب چې دَ وهلو يا دَ څهٔ زهريلا څيز دَ خوړلو پهٔ سبب پيدا شي- مټاکه- جمع غومبارې-
غومبر:(غوم-بر)اسم- واحد- مذکر- دَ مستۍ پهٔ وخت دَ کونترو غړرار- دَ مستۍ نه دَ کونترو شاو را تاؤ کيدنه او اواز ايستنه-
غومبر:(غوم-بر)اسم- واحد- مذکر- دَ ګيا پهٔ وخت دَ ملګانو دَ لاسونو پېولو سره دَ خلونه دَ تمبل پهٔ شان اواز ويستنه- بغبغو-
غومبرے:(غوم-به-رے)اسم- واحد- مذکر- بارخو- بارخو- رخسار- مخ- غومبورے- اننګے- ننګے- جمع غومبرې-
غومبړول:(غوم-به-ړه-ول)مصدرِ متعدي- ګـنـډه ګونډه جوړول- دَ خلقو راغنډول-
غومبړون:(غوم-به-ړه-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ غومبړول-
غومبړونګ:(غوم-به-ړه-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ غومبړول-
غومبړونه:(غوم-به-ړه-ونه)حاصلِ مصدر- وګورئ غومبړول-
غومبړونکے:(غوم-به-ړه-ون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع غومبړونکي- مؤنث غومبړونکې- وګورئ غومبړول-
غومبړوهٔ:(غوم-به-ړه-وهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ غومبړول-
غومبړه:(غوم-به-ړه)اسم- واحد- مؤنث- غوړه روټۍ-
غومبسکه:(غوم-بس-که)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ غومبسه-
غومبسکے:(غوم-بس-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غومبسه-
غومبسه:(غوم-به-سه)اسم- واحد- مؤنث- زنبور- بامبره- بمبره- ډمبرګۍ- ډمبره- ډنبارهٔ- غومبسکه- جمع غومبسې-
غومبک:(غوم-بک)اسم- واحد- مذکر- يو قسم بوټے-
غومبوګکه:(غوم-بوګ-که)اسم- واحد- مؤنث- ستغ- راوتلې غوښه- جمع غومبوګکې-
غومبوره:(غوم-بو-ره)اسم- واحد- مؤنث- داسې ښځه چې هر وخت شر غواړي- شرۍ ښځه- جمع غومبورې-
غومبورے:(غوم-بو-رے)اسم- واحد- مذکر- جمع غومبوري- وګورئ غومبرے- جمع غومبوري-
غومبول:(غوم-به-ول)مصدرِ متعدي- ډېر تنګول- چيړل- خفه کول-
غومبون:(غوم-به-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ غومبول-
غومبونکے:(غوم-به-ون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع غومبونکي- مؤنث غومبونکې- وګورئ غومبول-
غومبونګ:(غوم-به-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ غومبول-
غومبونه:(غوم-به-ونه)حاصلِ مصدر- وګورئ غومبول-
غومبوهٔ:(غوم-به-وهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ غومبول-
غومبه:(غوم-به)اسم- واحد- مؤنث- غنډارے- ستغ- غومبسکے- جمع غومبې-
غومبې غومبې:(غوم-بې-غوم-بې)صفت- پړسيدلے پړسيدلے-
غومړه:(غو-مه-ړه)اسم- واحد- مؤنث- غومبړه- غوړه نمرۍ-
غوم غومبکه:(غوم-غوم-به-که)صفت/متعلق فعل- راټول شوي- جمع شوي-
غومېدل:(غو-مې-دل)مصدرِ لازم- دَ غمې نه ړک کيښناستل او ګوڼ ګوڼ کول- دَ غمې نه ځان سره خبرې کول- ګوربدل-
غومېدلے:(غو-مې-دَ-لے)اسمِ مفعول- واحد- مذکر- جمع غومېدلي- مؤنث غومېدلې- وګورئ غومېدل-
غومېدن:(غو-مې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ غومېدل-
غومېدنګ:(غو-مې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ غومېدل-
غومېدنه:(غو-مې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ غومېدل-
غومېدونکے:(غو-مې-دون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع غومېدونکي- مؤنث غومېدونکې- وګورئ غومېدل-
غومېدهٔ:(غو-مې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ غومېدل-
غومے:(غو-مے)اسم-واحد- مذکر- زيړ ګل لرونکے يو قسم بوټے-
غون:(غه-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ غول-
غونا:(غو-نا)اسم- واحد- مذکر- غونے- وېښته-
غوناجي:(غو-نا-جي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- خوانه غوا-
غوناره:(غو-نا-ره)اسم- واحد- مؤنث- يو ډېر خوشبودار غرنيز ګل-
غوناړ:(غو-ناړ)اسم- واحد- مذکر- دَ پوپۍ خوړلو نه پس دَ خُلې خوند ښهٔ کولو دَ پاره خوړلې کيدونکې ميوه- غوناړه-
غوناړه:(غو-نا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ غوناړ-
غونبتي:(غون-به-تي)اسم- واحد- مذکر- غُنډ-
غونسخ:(غون-سخ)اسم- واحد- مذکر- دَ مليريا ماشے-
غونتي:(غون-تي)اسم- واحد- مؤنث- هغه کړينګ چې دَ ماشومانو لهٔ پوزې بهيږي-
غونج:(غونج)صفت- (۱)جم شوے- يخ شوے- (۲)منجيله- ګنجې- (۳)غونډے-
غونجا:(غون-جا)صفت- کم عقل- بې کاره- بې فائدې-
غونج راغونج:(غونج-را-غونج)صفت- وګورئ غونج-
غونج مونج:(غونج-مونج)صفت- وګورئ غونج-
غونجوالے:(غونج-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- ګـنـجې تـوب-

ځ" (ځي-رل)، ټ"(ټي-ره-ول)، ګ"(ږيا-لې)، ې"(ټن-سه-ې) تفصيل دَ پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

(افغانستان)-

غونجول:(غُونَ-جه-وَل)مصدرِ متعدی- (۱)کونجی کول- ګنجې کول- ګلګوتی کول- منجیله کول- راټولول- (۲)یخول- جام کول- (افغانستان)-

غونجون:(غُون-جه-ون)حاصل مصدر- وګړِی: غونجول-

غونجونکے:(غُون-جه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غونجونکی- مؤنث غونجونکې- وګوری: غونجول-

غونجونګ:(غُون-جه-وُنګ)حاصلِ مصدر- وګوری: غونجول-

غونجونه:(غون-جه-وُ-نه)حاصل مصدر- وګوری: غونجول-

غونجوۀ:(غون-جه-وَۀ)حاصلِ مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګوری: غونجول-

غونجې:(غُون-جې)صفت- (۱)کونجې- کونجې- غونجے- غونج- غونډی- (۲)چک شوے- جام شوے-

غونجېدل:(غُونَ-جې-دَل)مصدرِ لازم- (۱)منجیله کېدل- کنجې کېدل- کونجې کېدل- راټولېدل- (۲)یخېدل- جام کېدل- چک کېدل-

غونجېدن:(غُونَ-جې-دن)حاصل مصدر- وګوری: غونجېدل-

غونجېدنګ:(غون-جې-دنګ)حاصل مصدر- وګوری: غونجېدل-

غونجېدنه:(غُونَ-جې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګوری: غونجېدل-

غونجېدونکے:(غون-جې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غونجېدونکی- مؤنث غونجېدونکې- وګوری: غونجېدل-

غونجېدۀ:(غون-جې-دَۀ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګوری: غونجېدل-

غونجی:(غُون-جی)اسم- واحد جمع- مؤنث- کونجی- د تار یا مزي ماشوره-

غونجے:(غُون-جے)اسم- واحد- مذکر- وګوری: غونجې-

غونخاۍ:(غُون-خاۍ)اسم- واحد- مذکر- هغه آله چې پرومبه پرې صفا کولے شی-

غونخابې:(غُون-خا-بې)اسم- جمع- وګوری: غنخابې-

غونخرکے:(غون-خر-کے)اسم- واحد- مذکر- تازه پیدا شوے د چېلۍ بچے- جمع غونخرکی-

غونخول:(غُونَ-خه-وَل)مصدرِ متعدی- حرکت ورکول- خوځول-

غونخولے:(غون-خه-وَ-نه)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع غونخولی- مؤنث غونخولې- وګوری: غونخول-

غونخون:(غون-خه-ون)حاصل مصدر- وګوری: غونخول-

غونخونکے:(غونَ-خه-وُن-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غونخونکی- مؤنث غونخونکې- وګوری: غونخول-

غونخونګ:(غون-خه-ونګ)حاصل مصدر- وګوری: غونخول-

غونخونه:(غون-خه-وَ-نه)حاصل مصدر- وګوری: غونخول-

غونخوۀ:(غون-خه-وَۀ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګوری: غونخول-

غونخه:(غُونَ-خه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وګوری: پسکاونه- (۲)د الو بالو د قسم یوه ونه-

غونخه:(غُونَ-خه)اسم- واحد- مؤنث- حرکت- خوځېدنه-

غونخېدل:(غُونَ-خې-دَل)مصدرِ لازم- حرکت کول- خوځېدل- غنخېدل-

غونخېدلے:(غون-خې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع غونخېدلی- مؤنث غونخېدلې- وګوری: غونخېدل-

غونخېدن:(غُونَ-خې-دَن)حاصل مصدر- وګوری: غونخېدل-

غونخېدنګ:(غون-خې-دنګ)حاصل مصدر- وګوری: غونخېدل-

غونخېدنه:(غون-خې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګوری: غونخېدل-

غونخېدونکے:(غُونَ-خې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غونخېدونکی- مؤنث غونخېدونکې- وګوری: غونخېدل-

غونخېدۀ:(غُونَ-خې-دَۀ)حاصلِ مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګوری: غونخېدل-

غونځے:(غُون-ځے)اسم- واحد- مذکر- غدے- غوندے- وګوری: غوندے-

غونچه:(غون-چه)اسم- واحد- مؤنث- غنچه- غنچک- غومبک- جومبک- د ګلو کندی-

غوندرکے:(غُونَ-درهـ-کے)صفت- واحد- مذکر- مندرے- غوندرے- وړوکے قد لرونکے- ټیمرے- غومبے-

غوندرے:(غُونَ-درے)صفت- وګوری غوندرکے-

غوندل:(غُونَ-دَل)مصدرِ متعدی- غندل- غاندل- مذمت کول- هجو بیانول- (مشرانو پېر کم استعمال کړے دے)-

غوندورے:(غُونَ-دو-رے)اسم- واحد- مذکر- غونډارے- غنډارے- ګاټے-

غونده:(غون-ده)اسم- واحد- مؤنث- شلې او تار تار شوې وړې- ونډس شوې وړی-

د غوندی ستن:(غُون-دی-سْتَن)اسم- واحد- مؤنث- هغه غټه ستن چې غوندی کتې او د بوجو خلې پرې ګنډلے شی-

غوندی:(غُون-دی)کلمه تشبیه- لکه- په شان- غندې- په څېر- په شکل-

غوندے:(غُون-دے)اسم- واحد- مذکر- دوه بوجه ګنډلے شوې بوری- غندے- بوری-

غونډ:(غونډ)صفت- (۱)د دائرې په شکل ګول- (۲)ټول- په جمع- واړه- غنډ-

غونډ:(غونډ)اسم- واحد- مذکر- (۱)پله- جماعت- (۲)د افغانستان د فوځ یوه پله چې د غندمشر لاندې وی- (۳)د ونې ناتراشلې شوې تنه چې ابادی کښې ولګولے شی-

غونډاری:(غونَ-ډا-ری)اسم- جمع- مذکر- غنډاری- (۱)غټو منو کانی- غټې کانی- (۲)لۀ ختو یا شګو جوړ د ماشومانو د لوبو ګولې- (۳)ټکی- وړې وړې کلچې-

غونډاری:(غونَ-ډا-ری)اسم- واحد/جمع- مؤنث- غونډی- پوټی- رسولی-

غونډارے:(غون-ډا-رے)اسم- واحد- مذکر- (۱)وګوری: غونډاری- (۲)یو قسم

www.pukhto.net

بيمارۍ- جمع غونډارې-

غونډان:(غون-ډان)اسم- مذکر- د غونډ جمع-

غونډايه:(غون-ډا-يه)صفت- واحد- مذکر- ګوار- لواړ- پوماړ- ژبان- ژبن- بې پوله-

غونډراغونډ:(غونډ-را-غونډ)صفت- خپلو کښې راجخت شوی- راغونډ شوی-

غونډژبے:(غونډ-ژ-بے)صفت- (۱)تروږمے- چې ژبه يې نښلي- (۲)فصيح- بليغ-

غونډسر:(غونډ-سر)اسم- واحد- مذکر- د ځنګلي ونو ښاخې چې له کښې والي نه خپلو کښې نښتي وي- ګونډه سر-

غونډسرے:(غونډ-سرے)اسم- واحد- مذکر- (۱)کونټې- (۲)يو بوټے چې سپين ګل کوي- اوږن مرغي ورته هم وائي- (۲)صفت- ګول سرے- غټ سر والا- غټ سرے- جمع غټ سري-

غونډسکه:(غون-ډس-که)اسم- واحد- مؤنث- منهوس-

غونډسکے:(غون-ډس- کے)اسم- واحد- مذکر- ټپوسے- د چرګو يوه بيماري- جمع غنډسکي-

غونډک:(غون-ډک)اسم- واحد- مذکر- غنډل- ګنډل- لړمی- غنډه-

غونډک:(غون-ډک)اسم- واحد- مذکر- ګروپ- جماعت- فرقه- غنډک-

غونډکه:(غون-ډ-که)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ غونډکي-

غونډکي:(غون-ډ-کي)اسم تصغير- واحد- مؤنث- د غونډۍ اسم تصغير- (۱)وړوکے غر- (۲)ټيټکي- چينکي-

غونډکے:(غون-ډ-کے)صفت- د وړوکي قد- مندرے- غنډکے-

غونډل:(غون-ډل)اسم- واحد- مذکر- ګنډل- غنډک- غونډک- لړمی-

غونډمن:(غونډ-من)صفت- ګول- غونډ موند- غونډ مند- بيخي غنډ- وګورئ غونډ مونډ-

غونډ مونډ:(غونډ-مونډ)صفت- واحد جمع- مذکر- (۱)ګول- بيخي غنډ- چيت- ټيټ- مندرے- چينکے- د وړوکي قد- (۲)خرب- شلپ- غټ کټ-

غونډواله:(غونډ-وا-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ غونډوالے-

غونډوالے:(غونډ-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- د غنډ/غونډ کېدو حالت-

غونډوربوزے:(غونډ-ور-بو-زے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم بيماري-

غونډو:(غون-ډو)صفت- ښکلې جبين- ګرېه او ښکلې جبين- غونډه-

غونډورے:(غون-ډو-رے)اسم- واحد- مذکر- غونډارے- غنډارے-

غونډوږے:(غونډ-و-ږے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم واښه- کبل- درب- دب- نباتاتي نوم سائنپوهن پېکښې اون (CYNODON DACTYLON)-

غونډوس:(غون-ډوس)اسم- واحد- مذکر- غنډوس- پنډوس- توپ- ټپکے- ګېند-

غونډوسکے:(غون-ډوس-کے)اسم- واحد- مذکر- د غونډوس اسم تصغير غنډوس-

غونډول:(غون-ډ-ول)مصدر متعدي- (۱)غنډول- جمع کول- راټولول- يوځاې کول- (۲)ګول کول- رانغاړل- (۲)مسطه کول-

غونډون:(غون-ډ-ون)حاصل مصدر- وګورئ غونډول-

غونډونکے:(غون-ډ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غونډونکي- مؤنث غونډونکې- وګورئ غونډول-

غونډونګ:(غون-ډ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ غونډول-

غونډونه:(غون-ډ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ غونډول-

غونډوه:(غون-ډ-وه)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ غونډول-

غونډه:(غون-ډه)صفت- واحد- مؤنث- د غونډو مؤنث- د وړوکي قد ښځه-

غونډه:(غون-ډه)اسم- واحد- مؤنث- جمعيت- اجتماع- ټولے- ټولنه- مجلس- ټولګے- (۲)د خاورې وړوکے غر- غونډارے- طائفه-

غونډه مرۍ:(غون-ډه-مرۍ)اسم- واحد- مؤنث- حلق- تالو- مرۍ-

غونډي:(غون-ډي)صفت- جمع- مذکر- د غونډے جمع-

غونډيچر:(غون-ډي-چر)اسم- واحد- مذکر- يو خودرو بوټے چې د اوړي په شان وي-

غونډېدل:(غون-ډې-دل)مصدر لازم- (۱)جمع کېدل- راټولېدل- يوځاې کېدل- (۲)ګول کېدل- رانغاړېدل- (۲)مسطه کېدل-

غونډېدن:(غون-ډې-دن)حاصل مصدر- وګورئ غونډېدل-

غونډېدنګ:(غون-ډې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ غونډېدل-

غونډېدنه:(غون-ډې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ غونډېدل-

غونډېدونکے:(غون-ډې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غونډېدونکي- مؤنث غونډېدونکې- وګورئ غونډېدل-

غونډېده:(غون-ډې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ غونډېدل-

غونډۍ:(غون-ډۍ)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)وړوکے غر- د کاڼو وړوکے غر- (۲)د خاورو پخه ډېرۍ- ختړ- (۲)صفت- د غونډ/غنډ مؤنث-

غونډے:(غون-ډے)صفت- غنډے- (۱)ټيټکے- ټيټ- لنډے- غونډکے- (۲)ګول- (۲)وګورئ غنډل- جمع غونډي-

غونډے:(غون-ډے)صفت- غنډے- زلمے- ژبے- ژبکے- زبے- فلک- جمع غونډي-

غونشه:(غون-شه)اسم- واحد- مؤنث- غنچه- غنشه- د ځنو ميوو وږے- انګور- جمع غونشې-

غونکے:(غمون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ غول-

غونګ:(غه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ غول-

غونه:(غو-نه)اسم- واحد- مؤنث- د وجود نرۍ او باريک وېښته- تور وېښته- روميه- وري- خورمه- د وېښتو سورے- سام- (۲)کونه- جمع غونې-

غونه:(غه-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ غول-

غونه خيګېدل:(غو-نه-خي-ګې-دل)مصدر لازم- د وېرې له کبله د بدن وېښته

ی (خي رل) ی (مې-رومول)، ي (بهما-لي)، ے (تن-مهيے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

بېغېدل-
غوني:(غو-نی)اسم- جمع- مذکر- (۱)وېښته- (۲)پوستکے-
غونښے:(غو-ني-ښے)صفت- ذ ښو اخلاقو- خوږ ژبانه- خوش اخلاقه-
غونے:(غو-نے)لاحقه چې ذ اسم نه پس راځي او ذ څهٔ صفت اظهار پکښې کیږي لکه ژړه غونے وغیره-
غونے:(غو-نے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ذ وجود وېښته- وګورئ غونه/غوني- (۲)ذ بدن ګرمي- (۲)طبیعت- خوئي- اموخته- جمع غوني-
غونړ:(غونړ)صفت- بداوازه- پوزه کښې خبرې کونکے- غوني- ګنها- ګنهې- ګونې-
غوڼاسکه:(غو-ڼاس-که)اسم- واحد- مؤنث- غرانکه- جمع غوڼاسکې-
غوڼاشکے:(غو-ڼاش-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ذ خنکدن سلګې- (۲)ذ اُبو ورو بهېدنه- جمع غوڼاشکي-
غونکے:(غونړ-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غونهار-
غونه:(غو-نه)اسم- واحد- مؤنث- ذ چرګ وغیره ذ ګرخېدو ورو اواز-
غونهار:(غو-نهار)اسم صفت- غونکے- بنهار- بنګے- پهٔ پوزه کښې خبرې کېدونه-
غونېدل:(غو-نې-دل)مصدر لازم- ذ ځان سره خبرې کول- ګونېدل- بنېدل-
غونېدلے:(غو-نې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع غونېدلي- مؤنث غونېدلې- وګورئ غونېدل-
غونېدن:(غو-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ غونېدل-
غونېدنګ:(غو-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ غونېدل-
غونېدنه:(غو-نې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ غونېدل-
غونېدونکے:(غو-نې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غونېدونکي- مؤنث غونېدونکې- وګورئ غونېدل-
غونېدهٔ:(غو-نې-دهٔ)حاصل مصدر او ذ ماضي استمراري ذ واحد غائب صیغه- وګورئ غونېدل-
غونېږے:(غو-نې-ږے)اسم صفت- واحد- مذکر- ذ شپېلۍ اواز-
غونے:(غو-نے)صفت- واحد- مذکر- غونړ- پوزه کښې خبرې کونکے- جمع غوني-
غوور:(غو-ور)اسم- واحد- مذکر- بخه- یو قسم چینجے چې جامې سورې کوي-
غووره:(غو-و-ره)اسم- واحد- مؤنث- ذ موسیقۍ تال او تول-
غوول:(غو-ول)مصدر متعدي- غول- ذ نارینه ذ زنانه یا ذ نارینه ذ نارینه سره هم بستري کول- چا ته شرم اړول- چا له سترګې تیتول-
غوولے:(غو-ولے)اسم مفعول/صفت- وګورئ غوول- (۱)نامرد- بې غیرته- (۲)ذ بداعلۍ ضد-
غوون:(غو-ون)حاصل مصدر- وګورئ غوول-
غوونکے:(غو-وون-کے)اسم فاعل- وګورئ غوول- بدکاري کوونکے-

غوونګ:(غو-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ غوول-
غوونه:(غو-ونه)حاصل مصدر- وګورئ غوول-
غووهٔ:(غو-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ غوول-
غويباتے:(غوی-باتے)اسم- واحد- مذکر- ذ پلنو پاڼو یو بوټے چې حیوانات یې خوري-
غويخرک:(غوی-خرک)اسم- واحد- مذکر- یو غرنیز بوټے چې حیوانات یې خوري-
غويږه:(غوی-ږه)صفت- نرم- غوړ- لچک لرونکے-
غوينباره:(غوی-نبا-ره)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم واښهٔ چې ذ سپرلي موسم کښې کیږي-
غوښین رګ:(غوښین-رګ)اسم- واحد- مذکر- رګ نساء-
غويبل:(غوي-بل)اسم- واحد- مذکر- ذ غوا بیږي-
غويهنګ:(غوي-هنګ)اسم- واحد- مذکر- ذ شهوت رګ-
غويږنی:(غوي-ږني)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)لهٔ غوږونو ذ خیرې وکښلو الهٔ- غوږوني- غوږتومبنے- (۲)والي- ذ غوږونو یو پسول-
غويښکے:(غويښ-کے)اسم- واحد- مذکر- ذ غنمو نوے زرغن شوے فصل-
غويلانه:(غوي-لانه)اسم- واحد- مؤنث- ذ سپرلي پهٔ سر کښې زرغنېدونکې یوه ګیاه چې اوږدې اوږدې پاڼې لري-
غويلنګ:(غوي-لنګ)اسم- راحد- مذکر- (۱)مچې- (۲)ذ غومې یو قسم- (۲)هغه پټي چې ذ بار وړونکو څاروو ذ لکۍ لاندې تړلے شوې وي- پیاړمه-
غويمنه:(غوي-منه)اسم- غویمه- (۱)ذ څارویو توپونه وهنه- (۲)پهٔ غوایانو غوبل کونه- (۲)ګډه کوډه- شورشغب- اتراتفری-
غويمه:(غوي-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وګورئ غویمنه- (۲)هر سهی چې پهٔ واریزې سهی پسې وي- (۲)ذ غوا واړ راوړنه- (۴)پهٔ ګډیو غوایانو درمند میده کونه-
غويمه لنګ:(غوي-مه-لنګ)اسم- واحد- مذکر- پیاړمه- ورستاړه- مچې- غويلنګ-
غوے:(غوے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ذ غوا مذکر- (۲)احمق- کم عقل- بې وقوف-
غوے انږے:(غوے-انږے)اسم- واحد- مذکر- فساد- شر- پره جمبه-
غهٔ:(غهٔ)ضمیر- ذ هغه مخفف- هغه-
غیاب:(غیاب)اسم- واحد- مذکر- غیرحاضري- غفلت- (م- عربي)-
غیالی:(غیا-لی)اسم صفت- اړے ګړ-
غیبه:(غی-به)اسم- واحد- مؤنث- وطلے شوے مالوچ یا وړې-
غیب:(غیب)اسمُ- واحد- مذکر- پیک- قیف- (افغانستان)-
غیره:(غیره)صفت- (۱)غاوره- مغروره- متکبر- کبرژن- غره- فخر کونکے-
غیشه:(غی-شه)اسم- واحد/جمع- مؤنث- غوشه- غوښه-

زبر "(ح-سه-ره)"، زورکے "(شل)"، پېښ "(نو-کاره)"، زېر "(ک-تاب)"، "جزم" (شکون)، "ه" (ژ-وه)، "هٔ" (دو-سپی-ده)

www.pukhto.net

غیښلی:(غیښ-لي)اسم- واحد- مؤنث- خارښ- ګربدنه- خارښت-

غیښلے:(غی-ښه-لے)اسم- واحد- مذکر- تالے- ښانک-

غیل:(غیل)اسم- واحد- مذکر- فریب- دوکه- چل-

غیلان:(غی-لان)اسم- د تنلو د کانی مه نیر چې سولېدلے وی او تخم ئې نه شی خمېبلے-

غیلے:(غی-لے)صفت/مفعول- هغه څوک چې بدکاری ورسره شوی وی- غوولے- ؤولے-

غیمبسه:(غیم-بڅ-سه)اسم- واحد- مؤنث- بنګسه- سیلی چې شکې خاورې الوځوی-

غین:(غین)اسم- واحد- مذکر- غین- غن- ږګه- ذکر- د سړی اله تناسل- چبکے- چول-

غینچه:(غین-چه)اسم- واحد- مؤنث- بوټی- ترپکه-

غین:(غین)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غین-

غینهور:(غی-نه-ور)صفت- مذکر- د غینې خاوند- غټ غینې لرونکے- (۲)بې حیا- (۳)بې شرمه- (۴)زناکار- شهوتی-

غیور:(غه-یور)صفت- غیرتمند- ننګیالے- غیرتی- (م- عربی)-

غیوری:(غه-یو-ري)اسم- واحد- مؤنث- د غیور کېدو حالت-

غیب:(غیب)صفت- (۱)د سترګو نه پناه- په نظر نه راتلونکے- غیر موجود- پټ- (۲)پوده- (م- عربی)-

غیبانه:(غې-با-نه)صفت/متعلق فعل- د غیبو- غیبی- پټ- پراسرار- (م- غائبانه- فارسی)-

غیبانه:(غې-با-نه)اسم- جمع- مذکر- غیب عالم- پیریان- (۲)د غیبانه اثر- د پیریانو اثر-

غیبت:(غې-بت)اسم- واحد- مذکر- د چا په غیر موجودګئ کښې په هغه پسې خبرې کونه- پس شا د چا عیب بیانونه- جمع غیبتونه-

غیب عالم:(غیب-عا-لم)اسم- جمع- مذکر- پیریان-

غیب ګوئی:(غیب-ګو-ئي)اسم- واحد- مذکر- پېشګوئی-

غیبی:(غې-بي)صفت- (۱)اچانک- ممدستی- ناګهانه- (۲)په نظر نه راتلونکے-

غیجه:(غې-جه)صفت- غوبږه- (۱)مضبوط- محکم- سخت- (۲)اسم- د زمری یو قسم- ځملی خر- د سائنسی نوم د پاره وګورئ زمرے- جمع غیجی-

غیر:(غیر)صفت- د خپل ضد- پردے- بېګانه- باری- ناآشنا- بهرنے-

غیرآباد:(غیر-آ-باد)صفت- وران- ویجاړ- بیدیا- شاړه- صحرا- کنډر-

غیرت:(غې-رت)اسم- واحد- مذکر- ننګ- شرم- پښتو- حمیت- مړانه- بهادری- (عربی)-

غیرتمن:(غې-رت-من)صفت- وګورئ غیرتمند-

غیرتمند:(غې-رت-من)صفت- غیرت لرونکے- غیرتی- ننګ کونکے- بهادر- غیرت ناک-

غیرتمن تیا:(غې-رت-من-تیا)اسم- د غیرتمن کېدو حالت-

غیرتمند:(غې-رت-مند)صفت- وګورئ غیرتمن- (فارسی)-

غیرتمندتیا:(غې-رت-مند-تیا)اسم- د غیرتمند کېدو حالت-

غیرتناک:(غې-رت-ناک)صفت- وګورئ غیرتمن-

غیرتی:(غې-رمتي)صفت- وګورئ غیرتمن- جمع غیرتیان-

غیرحاضر:(غیر-حا-ضر)صفت- چې حاضر نه وی- چې په موقع نه وی-

غیرحاضری:(غیر-حا-ضر-ري)اسم- واحد- مؤنث- غیر موجودګی- د چا په موقع نیشتوالے-

غیر ذی روح:(غیر-ذی-روح)صفت- بغیر روحه- غیر جاندار- مړ- (عربی، فارسی)-

غیرسیال:(غیر-سیال)صفت- چې سیال نه وی-

غیرشعوری:(غیر-ش-عو-ري)صفت- (۱)چې د شعور مطابق نه وی- (۲)بې له شعوره شوے- (۳)نادانسته-

غیرضروری:(غیر-ضر-و-ري)صفت- چې ضرورت ئې نه وی- فضول- بې فائدې- ناپکاره-

غیرعماز:(غیر-عه-ماز)صفت- د لارې خنډ- بهرنے- پردے- دربېګړے-

غیرفانی:(غیر-فا-ني)صفت- نه فنا کېدونکے-

غیرقانونی:(غیر-قا-نو-ني)صفت- د قانون خلاف- د قاعدې خلاف-

غیرمساوی:(غیر-مه-سا-وي)صفت- چې مساوی نه وی-

غیرمستقیم:(غیر-مس-ته-قیم)صفت- په ترڅ- بلواسطه- کوږ-

غیرمشروط:(غیر-مش-روط)صفت- بې له څه شرط نه-

غیرمعمولی:(غیر-مع-مو-لي)صفت- د معمول خلاف- د دستور خلاف-

غیرمعیاری:(غیر-مع-یا-ري)صفت- د معیار مقابل- خراب-

غیرمکمل:(غیر-م-کم-مل)صفت- چې مکمل نه وی- نیمګړے-

غیرملکی:(غیر-مل-کي)صفت- چې د ملک نه وی- بهرنے- پردیسی-

غیرممکن:(غیر-مم-کن)صفت- چې ممکن نه وی- نه کېدونکے-

غیرمنصفانه:(غیر-من-ص-فا-نه)صفت- په بې انصافئ-

غیرمهذب:(غیر-م-هذ-ذب)صفت- بې تهذیبه- بداخلاقه- بې تمدنه- غیر متمدن-

غیرند:(غې-رند)صفت- سست-

غیره:(غې-ره)اسم- واحد- مذکر- ځنګلی خر-

غیره:(غې-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)شاړه- بیدیا- صحرا- (۲)قبائیلی علاقه-

غیریت:(غې-ري-یت)اسم- واحد- مذکر- بېګانه توب- اجنبیت-

غېرول:(غې-ړ-ول)مصدر متعدی- غوړول- خوروّل- ویړول- د غوړول یو قرآت-

غېرون:(غې-ړ-ون)حاصل مصدر- وګورئ غېرول-

غېرونکے:(غې-ړ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع غېرونکی- مؤنث غېرونکې- وګورئ غېرول-

غېرونګ:(غې-ړ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ غېرول-

ګـ (ګې-رل)، ي (هې-ره-ول)، ی (یبا-لي)، ے (تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

غېرونه:(غې-ړه-وه-نه)حاصل مصدر- وګورئ غېړول-

غېږ:(غېږ)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د چا نه دواړه لاسونه تاوونه- (۲)غاړه- مټل- څوا- (۳)خولۍ- جولۍ- (۴)د دواړو لاسونو نه د څه څیز د اېښولو یا کښېنولو د پاره جوړ ځایْ-

غېږایستل:(غېږ-ایس-تل)مصدر لازم- کېدې کول-

غېږباز:(غېږ-باز)صفت- د کشتۍ ماهر- پهلوان- غېږبایس-

غېږبازی:(غېږ-با-زی)اسم- واحد- مؤنث- کُشتي- پهلواني- غېږباسی-

غېږباس:(غېږ-باس)صفت- وګورئ غېږ-باز-

غېږباسی:(غېږ-با-سی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ غېږبازی-

غېږ په غېږ:(غېږ-په-غېږ)متعلق فعل- غاړه په غاړه- سینه په سینه-

غېږ روغ بړ:(غېږ-روغ-بړ)اسم- واحد- مذکر- لاس ورکونه او غاړه ورکونه- خوش آمدید-

غېږه:(غې-ړه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ غېږ-

غېش رله:(غېش-ره-له)اسم- واحد- مؤنث- د بېد یو قسم چې خودرو او سور وی-

غېښے:(غې-ښے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ غښے- غسے- جمع غشی-

غیظ:(غیظ)اسم- واحد- مذکر- قهر- غضب- غصه- (عربی)-

غېل:(غېل)اسم- واحد-مذکر- (۱)جنګی- درګاه- (۲- صفت)په هوښیارتیا سره د څه واقعې نه د ځان خلاصولو عادی-

غېل:(غېل)اسم- واحد- مذکر- غوجل-

غېله:(غې-له)اسم- واحد- مذکر- (۱)رمه- ګله- ګډې بزې- (۲)د وړو د یوې لوبې نوم- جمع غېلې-

غېلې:(غې-لې)اسم- جمع- مؤنث- غلې-

غېلې:(غې-لې)اسم- جمع- مؤنث- (۱)ګډې بزې- رمې- (۲)د ماشومانو یو قسم لوبه-

غېلې غوا:(غې-لې-غوا)اسم- واحد- مؤنث- غوا غېلې- ګاروی- ډنګر- څناور-

غېمه:(غې-مه)اسم- واحد- مؤنث- هغه غوا چې ول یې راوړے وی-

غېن:(غېن)تلفظ- د " غ " حرف تلفظ-

غېندوک:(غېن-دوک)صفت- وګورئ غېنده-

غېنده:(غېن-ده)صفت- غونکے- بدکاری کونکے- زناکار-

غېندی:(غېن-دی)صفت- مؤنث- زناکاره-

غېندے:(غېن-دے)صفت- وګورئ غېنده-

غېسره:(غېس-ړه)اسم- واحد- مؤنث- ناړے- ونهه- د ګاروېو یوه خوراکه-

غېن:(غېن)اسم- واحد- مذکر- غن- ذکر- غېن-

غېنه چوړے:(غې-نه-چو-ړے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم لوبه-

غبیل:(غې-یل)مصدر غوول- غول- جماع کول- کورولے کول-

www.pukhto.net

ف:(فې)حرف- د پښتو الفبې دېرشم او عربي شلم حرف- په پښتو کښې عموماً دا حرف په "پ" سره ونیلے شي-

فابریکه:(فا-بر-ی-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د جامو جوړولو کارخانه- د کپړو جوړولو کارخانه- (۱)کارخانه- (م- فارسي)-

فاتح:(فا-تح)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)فتح کوونکے- (۲)بریالے- کټندونے- سوبمن- (۲)شروع کوونکے- پرانستونکے- پرانیستونے- (م- فارسي)-

فاتحانه:(فا-ت-حا-نه)متعلق فعل- کامیابۍ سره- غلبې سره- په فتحې سره- (م- عربي)-

فاتحه:(فا-تح-حه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)شروع- آغاز- (۲)د قرآن کریم د وړومبۍ سورت نوم- (۳)د مړی په حق کښې دعا غوښتنه- پلیا- پاتا- لاس نیوه- عذر- جمع فاتحګانې فاتحې- (م- عربي)-

فاتر:(فا-تر)اسم صفت- (۱)سست- مراوے- شړت- (۲)نیم ګرم- (م- عربي)-

فاجر:(فا-جر)اسم صفت- بدکار- بېشرمه- اواره- بدکرداره- فاسق- بدلمنے- باشرلت- لوبه- ګناهګار- (م- عربي)-

فاجر و فاسق:(فا-ج-رو-فا-سق)صفت- مرکب- ګناهګار- سخت ګناهګار- فاجر-

فاجعه:(فا-ج-عه)اسم- واحد- مؤنث- سخته واقعه- لویه واقعه- حادثه- دردناکه واقعه- (م- عربي)-

فاحش:(فا-حش)اسم صفت- (۱)په خرابۍ کښې د حد نه وتلے- علاوه- (۲)پوچ کوه- پوچ خلے- (۳)موذي- ضرر رسوونکے- (۴)بخیل- کروټے- (۵)بدکار- بې حیا- بې شرمه- (م- عربي)-

فاحشه:(فا-ح-شه)اسم صفت- بدکاره ښځه- د فاحش مؤنث- پلشته- کامیره- بدلمنې- کسبۍ- (م- عربي)-

فاخته:(فاخ-ته)اسم- واحد- مؤنث- قمري- کوړکوړۍ- کوکوشتکه- یوه مرغۍ- (م- عربي)-

فاخر:(فا-خر)صفت فاعل- (۱)غرور کوونکے- (۲)وياړونکے- فخر کوونکے- (م- عربي)-

فاخره:(فاخ-ره)صفت- مؤنث- قیمتي- د ډېر قیمت- ګران- (م- عربي)-

فار:(فار)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د فاره جمع- موږه- موږک- موږک- (۲)مشک نافه- (م- عربي)-

فارس:(فا-رس)اسم- واحد- مذکر- (۱)د ایران د ملک یوه حصه- (۲)د ایران زوړ نوم- (۳)سور- سپور- (م- عربي)-

فارسي:(فار-سي)اسم- واحد- مؤنث- د ایران ژبه- د ایرانیانو مورنۍ ژبه- (م- فارسي)-

فارسي بان:(فار-سي-بان)اسم صفت- فارسي ویونکے- هغه څوک چې مورنۍ ژبه ئې فارسي وي- (م- عربي)-

فارغ:(فا-رغ)صفت- واحد- مذکر- آزاد- چې وزګار وي- (م- عربي)-

فارغ البال:(فا-رغ-ل-بال)صفت- بې غمه- خوشحال- بې فکره- آزاد- هغه څوک چې په آرام او سکون سره وخت تېروي- (م- عربي)-

فارغ التحصیل:(فا-رغ-ت-تح-صیل)صفت- د علم نه فارغ- چې علم ئې سر ته رسولے وي-

فارغول:(فا-رغ-ول)مصدر متعدي- (۱)آزادول- وزګارول- نوکرۍ نه وېستل- (۲)وحشول- بې غمه کول-

فارغېدل:(فا-رغ-ې-دل)مصدر لازم- فارغ کېدل- وزګارېدل-

فارغېدن:(فا-رغ-ې-دن)حاصل مصدر- وګورئ فارغېدل-

فارغېدنګ:(فا-رغ-ې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ فارغېدل-

فارغېدونکے:(فا-رغ-ې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع فارغېدونکي- مؤنث فارغېدونکې- وګورئ فارغېدل-

فارغېدنه:(فا-رغ-ې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ فارغېدل-

فارغېده:(فا-رغ-ې-ده)حاصل مصدر- وګورئ فارغېدل-

فارق:(فا-رق)اسم صفت- جدا کوونکے- بېلوونکے- په غلطه او سمه کښې تمیز کوونکے- (م- عربي)-

فارقلیط:(فار-قل-لیط)صفت اسم- د رسول کریم صلی الله علیه وسلم د پاره په انجیل کښې یاد شوے نوم- احمد-

فارم:(فا-رم)اسم- واحد- مذکر- (۱)درخواست- د خانه پرۍ د پاره چاپ شوے کاغذ- (۲)د غوا مېښو او چرګانو وغېره د نسل زیاتولو ځائ- (۳)د کر د پاره مخصوصه زمکه- (م- انګریزي)-

فارم:(فارم)اسم- واحد- مذکر- شکل- هیئت- پیکر-

فارمول:(فار-مول)اسم- واحد- مذکر- فارمولا- فارموله-

فاروق:(فا-روق)صفت- (۱)په حق او باطل کښې فرق کوونکے- بېلوونے- (۲)د حضرت عمر رضی الله عنه لقب- (م- عربي)-

فاره:(فا-ره)اسم- واحد- مؤنث- موږک- موږه- (م- عربي)-

فاسد:(فا-سد)اسم صفت- (۱)موذي- شریر- (۲)برباد- تباه- ګلړ- وران- ویجاړ- (م- عربي)-

فاسدول:(فا-س-د-ول)مصدر متعدي- (۱)موذي کول- شریرول- (۲)بربادول- تباه کول-

فاسدون:(فا-س-د-ون)حاصل مصدر- وګورئ فاسدول-

فاسدونکے:(فا-س-د-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع فاسدونکي- مؤنث فاسدونکې- وګورئ فاسدول-

فاسدونګ:(فا-س-د-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ فاسدول-

فاسدونه:(فا-س-د-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ فاسدول-

فاسدوه:(فا-س-د-وه)حاصل مصدر- وګورئ فاسدول-

فاسدېدل:(فا-س-دې-دل)مصدر لازم- (۱)موذي کېدل- شریر کېدل- بدېدل- (۲)تباه کېدل- (۳)بدلارې کېدل- له لارې وتل-

فاسدېدن:(فا-س-دې-دن)حاصل مصدر- وګورئ فاسدېدل-

www pukhto net

فاسدېدنګ:(فا-س-دې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ فاسدېدل-

فاسدېدنه:(فا-س-دې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ فاسدېدل-

فاسدېدونکے:(فا-س-دې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع فاسدېدونکي- مؤنث فاسدېدونکې- وګورئ فاسدېدل-

فاسدېده:(فا-س-دې-ده)حاصل مصدر- وګورئ فاسدېدل-

فاسفورس:(فاس-فو-رس)اسم- واحد- مذکر- یو غیر فلزي کیمیاوي عنصر، علامت یې P اټیمي وزن ئې ۳۰۰۹۸ او اټیمي نمبر یې ۱۵ دے- د هوا په نزدیکت سره سوځي، اُبو کښې ساتلے شي او د شپې لکه د ډیوې ځلیږي-

فاسق:(فا-سق)اسم صفت- بدکار- نه منونکے- بدنام- نافرمان- بدلاسے- ګناهګار- (م- عربي)-

فاشیسټ:(فا-شیسټ)اسم- هغه اقتدار چې په زور سره اخستے شوے وي- فاشیزم- (م- اطالوي)-

فاشیزم:(فا-شي-زم)اسم- واحد- مذکر- هغه اقتدار چې په زور سره د کمیونزم او نیشنلزم په مقابله راغلے وي- دا سې پارټي په اټلي کښې په ۱۹۲۲، کښې اقتدار ته راغلې وه او ۱۹۴۳ کښې د مسولیني په زوال ختمه شوه- (م- اطالوي)-

فاشیسټي:(فا-شیس-ټي)اسم صفت- وګورئ فاشزم- (م- اطالوي)-

فاصل:(فا-صل)اسم صفت فاعل- بېلونکے- جدا کونکے- داسې خط چې دوه لکیرې جدا کوي- خط فاصل- (م- عربي)-

فاصله:(فا-ص-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د دوو څیزونو تر مینځه ځائ- لرې والے- جدائي- (۲)وګورئ ارتفاع- (م- عربي)-

فاضل:(فا-ضل)صفت- (۱)کامل- پوه- پوهه- عالم- استاد- (۲)زیاتي- باقي مانده- (۳)د فضیلت خاوند- د مرتبې خاوند- (۴)هوښیار- قابل- (م- عربي)-

فاعل:(فا-عل)صفت- (۱)کار کونکے- فعل کونکے- (۲)اعلام کونکے- (م- عربي)-

فاعلي:(فا-ع-لي)صفت- وګورئ فاعل- چې فاعل ته یې نسبت کیږي- (م- عربي)-

فاقه:(فا-قه)اسم- واحد- مؤنث- لوږه- بې‌نانې کیدل- نهره- خوراک نه کول- لوږه- نهار- شوم- احتیاج- (م- عربي)-

فاکولته:(فا-کول-ته)اسم- واحد- مؤنث- په کالج یا یونیورسټۍ کښې د یو علم خاص شعبه- فیلکلټي-

فال:(فال)اسم- واحد- مذکر- شګون- پیش ګوئي- د حادثاتو په باره کښې پیش ګوئي- د راتلونکو حالاتو د مخکښې نه وینا کونه- (م- فارسي)-

فال استونکے:(فال-اس-تون-کے)اسم فاعل- فالي- پیش ګوئي کونکے- (م- فارسي)-

فال بین:(فال-بین)صفت- (۱)فال کتونکے- (۲)منجم- نجومي- (م- فارسي)-

فال بیني:(فال-بي-ني)اسم- واحد- مؤنث- فال کتنه- فال پوښتنه- (م- فارسي)-

فالتو:(فال-تو)اسم صفت- (۱)د ضرورت نه زیات- (۲)اضافي- (م- فارسي)-

فالج:(فا-لج)اسم- واحد- مذکر- یوه بیماري چې د بدن یو حصه ولګي نو هغه حصه بې حسه شي- (م- عربي)-

فالګ:(فا-لګ)اسم- واحد- مذکر- مرغ- بخت- نصیب- قسمت- زمانه- روزګار- اقبال- سعادت- مال- دنیا- دولت-

فال کتنه:(فال-کت-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)فال بیني- فال کتل- (۲)چا ته د لاس لکیرې ښودنه-

فال کتونکے:(فال-کتون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- فال معلومونکے- غیبي-

فال ګر:(فال-ګر)اسم صفت- واحد- مذکر- فال ښودونکے-

فالوده:(فا-لو-ده)اسم- واحد- مؤنث- د نشاستې د غټو منځو هغه ژاولې چې شیدو او یخو وغیره سره ګډ خوړلې شي او خوراک یالوده- جمع فالودې-

فالي:(فا-لي)اسم- واحد- مذکر- فال کتونکے- پیش ګوئي کونکے-

فالېز:(فا-لېز)اسم- واحد- مذکر- پالېز- د هندوانو باغ- د خربوزو پټے-

فام:(فام)اسم- واحد- مذکر- (۱)خط و خال- (۲)یوه لاحقه چې په پښتو کښې د رنګ په معنی استعمالیږي لکه سیاه فام- (م- فارسي)-

فانوس:(فا-نوس)اسم- واحد- مذکر- ځانوس- (۱)اللهین څراغ- (۲)هغه لاره کښې لګېدلے څراغ- لار ښوونه- (م- فارسي)-

فانه:(فا-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پانه-

فاني:(فا-ني)صفت- (۱)ختمېدونکے- (۲)ډېر زوړ- بوډا- (م- عربي)-

فائده:(فا-ئ-ده)اسم- واحد- مؤنث- (۱)نفع- آمدن- نتیجه- اثر- ګټه- سرمایه- (۲)وګورئ سوبتن- (م- فارسي)-

فائده تاوان:(فا-ئ-ده-تا-وان)اسم مرکب- سود و زیان- ګټه تاوان-

فائده مند:(فا-ئ-ده-مند)اسم صفت- (۱)نفع ورکونکے- سودمن- (۲)مفید-

فاتح:(فا-تح)اسم صفت- (۱)سوبه ورکے- (۲)غالب- کامیاب- (م- عربي)-

فائض:(فا-ئض)اسم صفت- (۱)فائده رسونکے- فیض رسان- (۲)ډېر- پرېمانه- ډېر فیض- (م- عربي)-

فائق:(فا-ئق)اسم صفت- بهتر- د وچتې مرتبې خاوند- برګزیده- (م- عربي)-

فبها:(ف-بها)حرف ندا- ډېر بهتر- آفرین- ښه ده- (م- عربي)-

فتا:(فتا)اسم صفت- (۱)پېغه زور- تکړه- ځوانمرد- بهادر- (۲)زلمے- ځوان- (م- عربي)-

فتاح:(فت-تاح)اسم صفت- (۱)غالب- فتح ورکونکے- مرېالے- (۲)د الله تعالی نو صفتي نوم- (۳)پرانستونکے- (م- عربي)-

فتح:(فتح)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کامیابي- غلبه- ګټه- بریه- (۲)وګورئ ګټل- (۳)پرانستنه- ... ور- ... (م- عربي)-

فتح کول:(فتح-کول)فعل مصدر- ویې- سول- احتقي- د خپې قدرت د لاندې

راوستل- نرکېدل- قصه کول- ورختړ- کش-

فتحه:(فت-حه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)غالب- پورته- (۲)زور- د حرف د پاسه د علامت (ـَـ)- (م- عربي)-

فتحه ياب:(فت-حه-ياب)اسم صفت- کامياب- فتحه مند- غالب- برىالے- کټونکے- (م- فارسي)-

فتراک:(فت-راک)اسم- واحد- مؤنث- يوه رسۍ چې اس پاندې د ښکار د ځيزونو تړلو د پاره تړلے شي- (م- فارسي)-

فتنه:(فت-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)آزمائش- ازمېښت- (۲)حيراني- تعجب- اريانتيا- (۳)فساد- جنګ- (۴)وګورئ آفت- (م- عربي)-

فتنه ګر:(فت-نه-ګر)اسم صفت- وګورئ بېلانتي- ورانکارے- فتنه پېدا کونکے- فسادي-

فتوت:(فُ-تُو-وت)اسم- واحد- مذکر- (۱)ځوانمردي- بهادري- (۲)سخاوت- (۳)مېړانه- مړانه- (م- عربي)-

فتوح:(فُ-توح)اسم- جمع- مذکر- (۱)کاميابي- ګټې- فتحونه- (۲)فراخي- (۳)سوکالي- د رزق پېروالے- (م- عربي)-

فتور:(فُ-تور)اسم- واحد- مذکر- (۱)کمزورے شوے- (۲)ګډوډ- شر- فساد- (۳)نقص- بې ترتيبي- خرابي- فتنه- غله ګله- (م- عربي)-

فتوى:(فت-وا)اسم- واحد- مؤنث- د شريعت حکم- د شريعت فېصله- (م- فارسي)-

فټ:(فټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)د ګز درېمه حصه- د دولسو انچو لوئ والے- (۲)پښه-

فټ:(فټ)اسم صفت- مناسب- لائق- موزون- درست-

فټافټ:(فټ-ټا-فټ)متعلق فعل- سمدستي- فوراً- ژر تر ژره- د سرکو په رپ کښې- په هغه درنګ په هغه ساعت- ان پن-

فټبال:(فټ-بال)اسم- واحد- مذکر- د لتواهنو) بال-

فټې مو:(فټ-ټے-مو)- نفرت کلمه-

فج:(فج)اسم- واحد- مؤنث- د دوو غرونو په مېنځ کښې لاره- تنګے- تنګه- نارے وتنګے-

فجاحت:(فه-جا-حت)اسم- واحد- مذکر- (۱)ونوالے- اوښتيا- (۲)کچه چې لا پوخ شوے نه وي- (۳)د لوی مودي ماشوم- (م- عربي)-

فجار:(فج-جار)اسم صفت- د فاجر جمع- بدکاران- غلط کارونه کونکي- (م- عربي)-

فجر:(فجر)اسم- واحد- مذکر- (۱)سحر- سپوږ- (۲)سپين والے- سپېدې- د سحر رڼا- د نور شغله- سحر- (م- عربي)-

فجع:(ف-جع)اسم- (۱)جعه کونه- عمرده کونه- (۲)ماروعه کول- خوږ منول- (م- عربي)-

فجور:(فُ-جور)اسم- واحد- مذکر- بدلمني- بدنامي- بدکاري- بداخلاقي- (م- عربي)-

فحش:(فه-حش)اسم صفت- بې شرمي- د خرابۍ حد نه وتل- کنځل کونه- کنځنه- پوچې او ګنده خبرې- (م- عربي)-

فحاش:(فح-حاش)اسم صفت- پوچ ګو- ګنده ويناکونکے- بدزبانه- (م- عربي)-

فحاشي:(فح-حا-شي)اسم- واحد- مؤنث- بدزباني- پوچ ګوئي- (م- عربي)-

فحوى:(فح-وا)اسم- واحد- مؤنث- مراد- مضمون- معنى- مطلب-

فخ:(فخ)اسم- واحد- مذکر- يو قسم لومه چې مرغان پرې نيولے شي- مرومدى-

فخر:(فخر)اسم- واحد- مذکر- (۱)تکبر- غرور- (۲)وياړ- (م- عربي)-

فخري:(فخ-ري)اسم- (۱)غرور کونه- (۲)وياړ کونه- تکبر کونه- (۳)د فخر- د وياړ-

فدا:(فِ-دا)اسم صفت- قربان- نثار- فداکار- (م- عربي)-

فداکار:(فِ-دا-کار)اسم صفت- وګورئ فدا- قرباني ورکونکے-

فداکاري:(فِ-دا-کا-ري)اسم- واحد- مؤنث- قرباني- د يو خاص مقصد د پاره د ځان سر او مال نه تېرېدنه-

فدائي:(فِ-دا-ئي)اسم صفت- قربانېدونکے- د چا د پاره سر ورکونکے- قربانونکے- جارېدونکے- عاشق- (م- فارسي)-

فدوي:(فد-وي)اسم- واحد- مؤنث- قربانېدونکے- خارېدونکے- (م- عربي)-

فديه:(فد-يه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)بونګه- هغه رقم چې د قيدي د پرېښودو د پاره ورکړے شي- (۲)سرېها- صدقه- سرجاري- سرې-

فر:(فر)اسم- واحد- مذکر- شمشمه- دبدبه- شان و شوکت- دبدبه- (م- عربي)-

فرات:(فُ-رات)اسم- واحد- مذکر- (۱)د عراق په ملک کښې د يو سيند نوم- (۲)خوږې اوبه- (م- عربي)-

فراخ:(فَ-راخ)اسم صفت- مذکر- رسيم- اراده- حوررور- پلن- لوئ- وګورئ ارت- مؤنث فراخه- (م- عربي)-

فراخوالے:(فِ-راخ-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- لوئ والے- ارتوالے- پلنوالے-

فراخول:(فِ-را-خه-ول)مصدر متعدي- لويول- ارتول- پلنول- آزادول-

فراخون:(فِ-را-خ-ون)حاصل مصدر- وګورئ فراخول-

فراخونکے:(فِ-را-خ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع فراخونکي- مؤنث فراخونکې- وګورئ فراخول-

فراخونګ:(فِ-را-خ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ فراخول-

فراخونه:(فِ-را-خ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ فراخول-

فراخوه:(فِ-را-خ-وه)حاصل مصدر- وګورئ فراخول-

فراخه:(ف-را-خه)اسم صفت- مؤنث- لويه- ارته- پراخه- پلنه- (م- عربي)-

فراخي:(ف-را-خي)اسم- مؤنث- سوکالي- خوشحالي- ريښتوالے- ارت والے- سوکاله-

فراخېدل:(ف-را-خې-دل)مصدر لازم- پراخېدل- ارتېدل- پلنېدل- وسيع کېدل- ازدېدل-

www.pukhto.net

فراخېدن:(فـرا-خې-دن)حاصل مصدر- وګورئ: فراخېدل-

فراخېدنګ:(فـرا-خې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ: فراخېدل-

فراخېدنه:(فـرا-خې-دنـه)حاصل مصدر- وګورئ: فراخېدل-

فراخېدونکے:(فـرا-خې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع فراخېدونکي- مؤنث فراخېدونکې- وګورئ: فراخېدل-

فراخېدهٔ:(فـرا-خې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ: فراخېدل-

فرار:(فـ-رار)اسم- واحد- مذکر- تېښتېدنه- تېښته- زغل- منډه کونه- (م- عربي)-

فرارول:(فـ-را-ر-ول)مصدر متعدي- زغلول- تښتول- غيبول- ېيول- پناه کول-

فرارون:(فـ-را-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ: فرارول-

فرارونکے:(فـرا-ر-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع فرارونکي- مؤنث فرارونکې- وګورئ: فرارول-

فرارونګ:(فـرا-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ: فرارول-

فرارونه:(فـرا-ر-ونـه)حاصل مصدر- وګورئ: فرارول-

فراروهٔ:(فـرا-ر-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ: فرارول-

فراري:(فـ-را-ري)اسم- واحد- مذکر- تښتېدونکے- تښتېدلے- هغه څوک چې د قانون نه پټ شوے وي-

فرارېدل:(فـرا-ري-دل)مصدر لازم- زغلېدل- تښتېدل-

فرارېدن:(فـرا-ري-دن)حاصل مصدر- وګورئ: فرارېدل-

فرارېدونکے:(فـرا-ري-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع فرارېدونکي- مؤنث فرارېدونکې- وګورئ: فرارېدل-

فرارېدنګ:(فـرا-ري-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ: فرارېدل-

فرارېدنه:(فـرا-ري-دنـه)حاصل مصدر- وګورئ: فرارېدل-

فرارېدهٔ:(فـ-را-ري-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ: فرارېدل-

فراز:(فـ-راز)اسم صفت- (۱)اوچت- پورته- (۲)وچتوالے- لوړوالے- (۳)پرت- کشاده- (م- عربي)-

فراست:(فـرا-ست)اسم- واحد- مذکر- هوښياري ځيرکي- دانائي- عقلمندي- فهم- زيرکي- (م- عربي)-

فراش:(فـر-راش)اسم- فرش غوړونکے- غوړونے- ويړونے هغه څوک چې د بادشاه يا د يو امير په محل کښې د فرش غوړولو د پاره مقرر شوے وي- (م- عربي)-

فراغ:(فـراغ)اسم- واحد- مذکر- (۱)بېکاري- (۲)اسودګي- (۳)فارغ- وزګار- (م- عربي)-

فراغت:(فـرا-غت)اسم- واحد- مذکر- (۱)فرصت- (۲)بېکاري- (۳)اسودګي- خوشحالي- آرام- (م- عربي)-

فراغتونه:(فـرا-غت-تو-نه)د فراغت جمع- سهولتونه- آرام- خوشحالي-

فراق:(فـراق)اسم- واحد- مذکر- جدائي- هجران- بېلتون- (م- عربي)-

فراقزن:(فـراق-زن)اسم صفت- مهجور- هجران وهلے-

فراموش:(فـرا-موش)صفت مفعول- هېر شوے- د ياد نه وتلے- هېر- (م- فارسي)-

فراموشکار:(فـرا-موش-کار)صفت فاعل- هېرېدن- هېرجالے- هغه څوک چې يوه خبره ژر هېروي- هېرندوکے-

فرامين:(فـرا-مين)اسم- جمع- مذکر- د فرمان جمع- حکمونه- احکام- (م- عربي)-

فراوان:(فـرا-وان)اسم صفت- ډېر زيات- د حد نه وتے- ډېر- بسيار- (م- فارسي)-

فراهم:(فـرا-هم)اسم صفت- (۱)راټول- غونډ- يو ځاے- (۲)يو ځاے کونه- حاصلونه- موندنه- (م- فارسي)-

فرائض:(فـرا-ئض)اسم- جمع- مذکر- (۱)د فرض جمع- مقرر شوے کار- (۲)د الله تعالیٰ حکمونه- (م- عربي)-

فربه:(فر-به)اسم صفت- واحد- مذکر مؤنث- (۱)تازه- مضبوط- (۲)غټ- خوړے- (م- فارسي)-

فربهي:(فر-به-هي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مضبوطي- تازه والے- (۲)څربښ- خرستے- غټوالے- څربوالے-

فرتوت:(فر-توت)اسم صفت- (۱)بوډا- ډېر بوډا- بوږغ- زوړ- (۲)له کاره وتلے- بېکاره- (م- فارسي)-

فرج:(فرج)اسم صفت- (۱)خلاوه- سورے- درز- (۲)د ښځې د شرم ځاے- (۳)ښکاره- د محې رڼا- (۴)د ويرې ځاے- (م- عربي)-

فرح:(فرح)اسم- واحد- مؤنث- خوښي- خوشحالي- له غمونو خلاصېدنه- (م- عربي)-

فرجاد:(فر-جاد)اسم صفت- دانشور- عقلمند- هوښيار- فاضل- (م- فارسي)-

فرجام:(فر-جام)اسم صفت- (۱)انجام- آخر- (۲)اسارګي- (۳)فائده- نفع- (۴)وروستو- (م- فارسي)-

فرحت:(فر-حت)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خوشحالي- سرور- (۲)ښادي- (م- عربي)-

فرحت ناک:(فر-حت-ناک)اسم صفت- خوشحال- ښادکام- ښاد-

فرخ:(فرخ)اسم- واحد- مذکر- (۱)نېک نصيبه- بختور- قسمت خور- (۲)ښائسته- (م- فارسي)-

فرخنده:(فر-خن-ده)اسم صفت- خوش نصيبه- سعادتمند- قسمت خور- بختور- کچير- نېک مرغه- (م- فارسي)-

فرد:(فرد)اسم- واحد- مذکر- (۱)يوازې- تنها- (۲)په نظم کښې يو بېت- (۳)فهرست-

فرد:(فر-د)اسم- مذکر- (۱)راتلونکے سبا- (۲)راتلونکې ورځ- ګانده- (م- فارسي)-

فردوس:(فر-دوس)اسم- واحد- مذکر- باغ- جنت- بهشت- بهشت-

زبر (ح مـهٔ-ره) زورکې (شل) پېش (قو-کـاسره)، زېر (کـ-تـاب)، جزم (شکون) ٔ (ر-ېـه)، ٔ (ږو-سې-ـدهٔ)

www.pukhto.net

ام- عربي)-

فردوسي:(فر-دو-سي)اسم صفت- (۱)جنتي- بهشتي- (۲)د شاهنامې د مصنف تخلص چې د طوس(ایران) وسېدونکې وه او ابوالقاسم ئې نامه وه- (م- عربي)-

فرزانه:(فر-زا-نه)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)هوښیار- خبرل- عقلمند- (۲)د دیوانه ضد- (م- فارسي)-

فرزند:(فر-زند)اسم- واحد- مذکر- پسر- څوئ- زوئ- جمع فرزندان- (م- فارسي)-

فرزندي:(فر-زن-دي)اسم- زوئ جوړېدنه- په زوئ نیونه- (م- فارسي)-

فرزین:(فر-زین)اسم- واحد- مذکر- وزیر- د شطرنج په لوبه کښې د یوې مهرې نوم- ام- فارسي)-

فرس:(فرس)اسم- واحد- مذکر- آس-

فرستاده:(فرس-تا-ده)اسم- واحد- مذکر- (۱)قاصد- پیغام رسان- استاځے- (۲)لیږلے شوے- (م- فارسي)-

فرسخ:(فر-سخ)اسم- واحد- مذکر- فرسنګ- تقریباً د شپږ زره ګزو فاصله- زردانګې- کروه- (م- فارسي)-

فرسنګ:(فر-سنګ)اسم- واحد- مذکر- درې میله فاصله- وګورئ فرسخ-

فرسود:(فر-سود)اسم- واحد- مذکر- زړېدنه- بېکاره کېدنه-

فرسوده:(فر-سو-ده)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- زوړ- زړه- د کاره وتے- (م- فارسي)-

فرش:(فرش)اسم- واحد- مذکر- فرش- غالیچه- (م- فارسي)-

فرشته:(فـ-رش-ته)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پیغام رسونکے قاصد- (۲)یو نوراني مخلوق- (م- فارسي)-

فرصاد:(فر-صاد)اسم- واحد- مذکر- د توت ونه او مېوه- شهتوت- سلطاني نوم د پاره وګورئ شاه توت- (م- عربي)-

فرصت:(فر-صت)اسم- واحد- مذکر- (۱)وخت- موقع- (۲)فراغت- رخصت- (م- عربي)-

فرض:(فرض)اسم- واحد- مذکر- (۱)د خدائ حکم- مقرر شوے کار- ضروري حکم- (۲)تصور کونه- ګڼنه- پوهېدنه- (۳)ضروري- لازمي- (م- عربي)-

فرضونه:(فر-ضو-نه)اسم- جمع- (۱)هغه انساني اندامونه چې د پټ ساتلو حکم ئې ورکړے شوے وي- (۲)لازمي کارونه-

فرط:(فرط)اسم- واحد- مذکر- (۱)کثرت- زیاتوالے- زیاتوالے- (۲)د غر څوکه- (م- عربي)-

فرع:(فرع)اسم- واحد- مذکر- (۱)ښاخ- څانګه- (۲)د مذهب وروستي اصول- (م- عربي)-

فرعون:(فر-عون)اسم- واحد- مذکر- (۱)د مصر د یو پخواني بادشاه لقب- (۲- صفت)مجازاً ظالم- غاړه- کبرژن- سرکښه- (م- عربي)-

فرعوني:(فر-عو-ني)اسم- واحد- مؤنث- (۱)فرعونیت- غرور- تکبر- (۲- صفت)فرعون ته منسوب-

فرغل:(فر-غل)اسم- واحد- مذکر- (۱)لویه چُغه- فرغول- (۲)سستي- لټي- م- فارسي)-

فرفر:(فر-فر)متعلق فعل- (۱)تېز- جلت- په رواني سره- (۲)ژبې د پاسه پروت- په یادو یاد- حفظ کېدنه-

فرق:(فرق)اسم- واحد- مذکر- (۱)تمیز- جدائي- (۲)فاصله- کمے زیاتے- (۳)سر- د سر کوپړي- (م- عربي)-

فرقان:(فر-قان)اسم- واحد- مذکر- (۱)د ریښتیاو او دروغو په مېنځ کښې فرق کونکے- فرق کونکے- (۲)قرآن مجید- (م- عربي)-

فرقت:(فر-قت)اسم- واحد- مؤنث- جدائي- فراق- بېلتون- (م- عربي)-

فرقه:(فر-قه)اسم- واحد- مؤنث- جماعت- ګروپ- قبیله- پله- جمع فرقې- (م- عربي)-

فرقه مشر:(فر-قه-مشر)اسم صفت- د پلې مشر- د قبیلې مشر- د جمات مشر-

فرقې:(فر-قې)اسم- جمع- مؤنث- وګورئ فرقه-

فرلانګ:(فر-لانګ)اسم- واحد- مذکر- د میل اتمه حصه- د ۲۲۰ ګز فاصله- م- انګریزي)-

فرمان:(فر-مان)اسم- واحد- مذکر- (۱)حکم- امر- (۲)وینا- (م- فارسي)-

فرمان بردار:(فر-مان-بر-دار)اسم صفت- تابعدار- د حکم پابند- منونکے-

فرمانبرداري:(فر-مان-بر-دا-ري)اسم- تابعداري- د حکم منه- اطاعت-

فرمائش:(فر-ما-ئش)اسم- په حیله حوښه د یو شي د جوړولو غوښتنه- حکم- امر- فرمان- فرمایښه-

فرمائشي:(فر-ما-ئـ-شي)صفت- د فرمائش سره متعلق- سهي دار-

فرمائل:(فر-ما-ئل)مصدر متعدي- حکم کول- د څه کار په باره کښې حکم کول- ارشاد کول-

فرموده:(فر-مو-ده)اسم- واحد- مؤنث- (۱)هغه خبره چې حکم ئې شوے وي- (۲)قول- بیان- (م- فارسي)-

فرنګ:(فـ-رنګ)اسم- واحد- مذکر- براعظم یورپ- د براعظم ایشیا د نمر پرېواتۀ طرفته یو براعظم-

فرنګستان:(فـ-رنګ-ګس-تان)اسم- واحد- مذکر- وګورئ فرنګ-

فرنګے:(فـ-رنګ-ګے)اسم- واحد- مذکر- د فرنګ وسېدونکے- د یورپ باشنده-

فرني:(فر-ني)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم خوراک-

فروري:(فر-و-ري)اسم- واحد- مؤنث- د عیسوي کال دویمه میاشت-

فروع:(فـ-روع)اسم- د فرع جمع- څانګې- اصطلاحاً علم فقه-

فروزان:(فـ-رو-زان)اسم صفت- چمکدار- روڼ- ام- فارسي)-

فروش:(فـ-روش)اسم- واحد- مذکر- فروختن مصدر نه امر- چې د لاحقې په طور د اسم نه پس لګي او اسم فاعل شي- لکه کتاب فروش (کتابونه

www.pukhto.net

خرڅونکے)- (۲)د خرڅ په مقابله کښې استعمال- (م- فارسی)-

فروشنده:(فـرو-شن-ده)اسم- واحد- مذکر/مؤنث- خرڅوکے- خرڅونے- پلورونکے- پلورونے- (م- فارسی)-

فروعات:(فـ-رو-عـات)اسم- جمع- د فروع جمع- (۱)ښاخونه- (۲)د مختلفو قسمونو ټيکسونه او محصول- ارکحه- گرمانه- (م- عربی)-

فروغ:(فـ-روغ)اسم- واحد- مذکر- (۱)چمک- رڼا- روښنائي- ځلا- ځرکا- (۲)نوم- شهرت- سپوا کېدنه- (م- فارسی)-

فرومايه:(فـرو-مـا-يه)اسم صفت- کمينه- رذيل- ناکجاته- پلمو- سپوتک- کچه- (م- فارسی)-

فرهاد:(فر-هاد)اسم- واحد- مذکر- د يو مشهور عاشق نوم چې په کوهکن هم مشهور دے- (م- فارسی)-

فرهنگ:(فر-هنگ)اسم- واحد- مذکر- (۱)عقل- علم- پوهه- بزرگی- جمع فرهنگونه- (۲)ډکشنري- د لغت کتاب- ګړلېکے- (۳)ادب- (م- فارسی)-

فرهنگي:(فر-هنگ-گي)اسم- د فرهنگ سره متعلق- کلتوري-

فرهنگ يالے:(فر-هنگ-يا-لے)اسم صفت- دانا- هوښيار- دانشور- عقلمند-

فرياد:(فر-ياد)اسم- واحد- مذکر- شور- شکايت- شکوه- واربلا- آه- د تکليف او سختۍ زګېروی او اسويلي- سوري- کوريله- کوکه-

فريادي:(فر-يا-دي)اسم صفت- فرياد کونکے- خپله سختۍ او تکليف بيانونکے- زوېرکي او اسويلي کونکے-

فريد:(فـ-ريد)اسم صفت- (۱)بې مثاله- بې نظيره- يکړ- (۲)د يو بزرگ نوم- (۳)د شيرشاه سوري اصلي نوم- (م- عربی)-

فريق:(فـ-ريق)اسم- واحد- مذکر- ګروه- جماعت- ټولے- ټهه- ټام- (م- عربی)-

فريقين:(فـرى-قين)اسم- جمع- مذکر- دوه جماعتونه- دوه مخالف ټولګي- مدعي او مدعا عليه- (م- عربی)-

فريب:(فـ-ريب)اسم- واحد- مذکر- دوکه- حيله- بهانه- چل- مکر- عېل- امدغ- وګورئ چمبازي- (م- فارسی)-

فريب جن:(فـ-ريب-جن)اسم صفت- فريب ژن- ټګمار- ټګيژن- حيله ساز- مکار- مکرے- چل ولی- چلباز- ټګ- بانپکر- چمباز- چلي- مارغېټے- دوکه مار- درومل- فريب ګر-

فريب ژن:(فـ-ريب-ژن)اسم صفت- وګورئ فريب جن-

فريب ګر:(فـ-ريب-گر)اسم صفت- مکار- دوکه باز- چل باز- فريب جن-

فريبنه:(فـرى-بنه)اسم صفت- مؤنث- (۱)مکاره- د ټګ ښځه- دوکه بازه- دوکه ماره- مکری- مکرژنه- (۲)بدکاره-

فريبي:(فـرى-بي)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- وګورئ فريب ګر فريب جن-

فريفته:(فـ-ريف-ته)اسم- (۱)دوکه خوړونکے- دوکه شوے- (۲)عاشق- مئين- (م- فارسی)-

فزع:(فـ-زع)اسم- واحد- مؤنث- (۱)نوحه- فرياد- واويلا- (۲)ويره- ډار- (م- عربی)-

فزيالوجي:(فز-يا-لو-جي)اسم- واحد- مذکر- د سائنس د علم يو ښاخ- علم الاعضا-

فژاک:(فـ-ژاک)صفت- واحد- مذکر- ګنده- سخا- خيرن- ناولے- چټل- (م- فارسی)-

فژم:(فـ-ژم)اسم- واحد- مذکر- زړه تنګېدنه- ساړوبی- (م- فارسی)-

فژولنده:(فـ-ژو-لن-ده)اسم صفت- دوکه ورکونکے- جال کښې ګېرونکے- (م- فارسی)-

فسات:(فـ-سات)اسم- وګورئ فساد-

فساتي:(فـ-سا-تي)اسم صفت- پساتي- شري- ورانکارے- فسادي-

فساد:(فـ-ساد)اسم- واحد- مذکر- فسات- شر- شرارت- جنګ- وګورئ پېلات- جمع فسادونه- (م- عربی)-

فسادي:(فـ-سا-دي)اسم صفت- شرير- شرارت کونکے- مفسد- فساد کونکے-

فسانه:(فـ-سا-نه)اسم- واحد- مؤنث- قصه- افسانه- (م- فارسی)-

فسخ:(فـ-سخ)اسم- (۱)پرېښودنه- ماتونه- بيه راګرځونه- (۲)اراده بدلونه- واپس وارستنه- (۳)سرټکونه- سرماتونه- (۴)ظلم- زياتے- (کول مصدر)- (م- فارسی)-

فسرده:(فـ-سر-ده)اسم صفت- افسرده- (۱)مړاوے شوے- شوک شوک- (۲)يخ- کنګل- منجمد- (م- فارسی)-

فسق:(فسق)اسم- مذکر- د خدائ د حکم خلاف کار کونه- بداخلاقی- بد کار- بدکاری- بدلامی- (م- عربی)-

فسق و فجور:(فسق-و-فـ-جور)اسم مرکب- د خدائ نافرماني- ګناهونه-

فسون:(فـ-سون)اسم- واحد- مذکر- (۱)افسون- اوده- پاره- (۲)ټګي- مکر- (م- فارسی)-

فسون ګر:(فـ-سون-گر)اسم صفت- افسون کونکے- اوده کونکے- پاړوګر- (م- فارسی)-

فشار:(فـ-شار)اسم- واحد- مذکر- دباؤ- زور- سياسی دباؤ- د وينې دباؤ- زورنه- ظلم- تاؤ- سسخته-

فشرده:(فـ-شر-ده)اسم- واحد- مؤنث- نچوړې شوے- (م- فارسی)-

فصاحت:(فـ-صا-حت)اسم- واحد- مؤنث- د کلام خوبي- خوش کلامی- بلاغت- ژبه ورتيا- ښې طريقې سره خبرې کونه- په محاورو سره خبرې کونه- (م- عربی)-

فصاد:(فص-صاد)اسم- واحد- مذکر- پرزمونے- وينه ويستونکے- فصد نکرونکے- رګ وهونکے- جراح-

فصد:(فصد)اسم- د رګ نه وينه ايستنه-

فصل:(فـ-صل)اسم- واحد- مذکر- (۱)جدائي- جداکونه- بېلونه- (۲)وخت- موسم- (۳)د کر حاصل پيداوار- جمع فصلونه- (م- عربی)-

فصل:(فـصل)اسم- واحد- مذکر- (۱)د کتاب یوه حصه- (۲)مند- جوړ-

فصلانه:(فص-لا-نه)متعلق فعل- فصل په فصل- دَ فصل-

فصلي:(فص-لي)اسم صفت- موسمي ګېزونه- داسې مېوې او غله چې په خاص موسم کښې کېږي- فصل سره منسوب- (م- فارسي)-

فصیح:(ف-صیح)اسم صفت- (۱)خوږ آواز- ترنم- (۲)خوږ اوازه- خوش بیانه- خوش تقریره- مؤنث فصیحه- (م- عربي)-

فصیل:(فـصیل)اسم- ښارپناه- شیرازه- مندوره- (م- فارسي)-

فضا:(ف-ضا)اسم- (۱)فراخي- پلنوالی- (۲)محیط- ماحول- (۳)وت- ښته- (۴)کیفیت- رونق- (م- عربي)-

فضاحت (ف-ضا-حت)اسم- واحد- مذکر- رسوائي- بدنامي- شرمندګي- اشواینه- (م- عربي)-

فضائل:(ف-ضا-ئل)اسم- جمع- د فضیلت جمع- ښهٔ خویونه- علوم- (م- فارسي)-

فضائي:(ف-ضا-ئي)اسم صفت- هوائي- خلائي- فضا سره متعلق-

فضل:(فـضل)اسم- (۱)بخښش- (۲)زیاتے- په علم کښې زیاتے- (۳)دانائي-

فضلا:(ف-ض-لا)اسم- د فاضل جمع- هوښیار خلق- عالمان- دانشوران- (م- عربي)-

فضول:(ف-ضول)اسم- واحد- مذکر- (۱)زیاتوالے- ډېروالے- (۲)کمینه- سپک- رذیل- بې هوده- (۳)پوچ- (۴)رټاویزه-

فضول خرچ:(ف-ضول-خرچ)صفت- (۱)بې ځایه پیسې لګونکے- فضول خرچ کونکے-

فضول خرچي:(ف-ضول-خر-چي)اسم- مؤنث- وګورئ فضول خرڅي-

فضول خرڅ:(ف-ضول-خرڅ)صفت- وګورئ فضول خرچ-

فضول خرڅي:(ف-ضول-خر-څي)اسم- مؤنث- (۱)بې ځایه خرڅ کونه- (۲)بدخرڅي- لوټري- بې خرته خرڅ کونه- فضول خرچي-

فضولي:(ف-ضو-لي)اسم- (۱)حقارت- کم عقلي- ګستاخي- بې ادبي- (۲)بې فائدې کېدنه- (م- عربي)-

فضیحت:(ف-ضي-حت)اسم- مؤنث- بې شرمي- رسوائي- ندامت- بدنامي- (م- عربي)-

فضیلت:(ف-ضي-لت)اسم- واحد- مؤنث- خوبي- بزرګي- زیاتوالے- هوښیاري- کمال- (م- عربي)-

فطر:(فطر)اسم- (۱)روژه ماتونه- افطاري- روژه ماتے- (۲)شروع کونه- آغاز- (۳)شلونه- (۴)پیدا کونه-

فطرت:(فط-رت)اسم- واحد- مؤنث- پیدائش- ځنه- خوږے- پیداوښت- حصر- ضمیر- طبیعت- طبع- (م- عربي)-

فطرتا:(فط-ره-تن)متعلق فعل- فطرتي طور- قدرتي- د فطرت له مخې- طبعا- (م- عربي)-

فطري:(فط-ري)اسم- قدرتا- قدرتي- فطرتي- پیدائشي- طبعي- (م- عربي)-

فطنت:(فط-نت)اسم- واحد- مؤنث- دانائي- ځیرکي- علم- (م- عربي)-

فطیر:(ف-طیر)اسم- واحد- مذکر- دَ خمیر ضد- فطیره- پتیره- چخمته-

فعال:(فع-عال)اسم- واحد- مذکر- کامل- ډېر زیات کار کونکے- چست و چالاک- منظم- پیاوړے- تکړه-

فعالیت:(فع-عا-لي-یت)اسم- واحد- مؤنث- مهارت- چستي- چالاکي- تکړه توب- پیاوړتوب- سرګرمي- (م- عربي)-

فعل:(فعل)اسم- واحد- مذکر- (۱)کار- کړه- چاره- کردار- عمل- شوے کار- (۲)هغه کلمه چې پکښې د څهٔ کار بیان وي- (م- عربي)-

فعل متعدي:(فع-ل-م-تع-دي)هغه فعل چې د فاعل نه پس په مفعول تمام شي- مفعول لرونکے فعل-

فعل لازم:(فع-ل-لا-زم)هغه فعل چې مفعول يې نهٔ وي- هغه فعل چې صرف په فاعل تمام شي

فعلي:(فع-لي)متعلق فعل- وګورئ فعل- د فعل- دَ فعل متعلق- (م- عربي)-

فغ:(فغ)اسم- (۱)یار- دوست- (۲)بُت- (م- فارسي)-

فغان:(ف-غان)اسم- واحد- مؤنث- شور- فریاد- واوېلا- ګیله- شکایت- افسوس- آه- (م- فارسي)-

فغفور:(فغ-فور)اسم- واحد- مذکر- (۱)اصل کښې "فغ پور" دے یعنې دَ بُت ځوئے د دېوتا ځوئے- (۲)د چین د پخوانو بادشاهانو لقب-

فق:(فق)اسم صفت- مراوے- حېران و پرېشان- زیړ- (م- فارسي)-

فقاهت:(ف-قا-هت)اسم- واحد- مؤنث- هوښیاري- دانائي- خبردارے- حاصلونه- پوهنه- (م- عربي)-

فقدان:(فق-دان)اسم- واحد- مذکر- ورکېدنه- ورکونه- نیشتوالے- نیشت- (م- عربي)-

فقر:(فقر)اسم- واحد- مذکر- بېوسي- احتیاج- درویشي- عاجزي- محتاجي- فقیري- (م- عربي)-

فقره:(فق-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)عبارت- جمله- (۲)د ملا هډوکے- د ملا مري- شمزۍ- (م- عربي)-

فقط:(ف-قط)متعلق فعل- بس- کافي- یوازې- صرف- (م- عربي)-

فقه:(ف-قه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)علم شریعت- (۲)تلاش- جستجو- تحقیق- پوهنه- فهم- (م- عربي)-

فقها:(فُ-ق-ها)اسم- جمع- مذکر- د فقیه جمع- ډېر پوهٔ- دَ علم شریعت عالمان- (م- عربي)-

فقید:(ف-قید)اسم صفت- (۱)بې مثاله- بې نظیره- (۲)ورک- (م- عربي)-

فقیر:(ف-قیر)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)خوار- محتاج- سائل- (۲)عاجز- غریب- امیر ضد-

فقیري:(ف-قي-ري)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د فقیر پېشه- ګدائي- لاس نیونه- (۲)بې وزلي- نېستي-

فک:(فک)اسم- (۱)جدا کونه- بېلونه- (۲)ژامه- ژامه- (م- عربي)-

ی (خی-ول)، ي(ھي-وه-ول)، ي(پیا-لی)، یږ(تن-د-ږ) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

فکاهت:(فـکا-هت)اسم- فکاهي- مذاق- مسخري- خوش طبیعتي- مزاح- ظرافت- (م- عربي)-

فکاهي:(فـکا-هي)اسم- وګورئ فکاهت- (م- عربي)-

فکر:(فـکر)اسم- واحد- مذکر- خیال- سوچ- اندېښه- (۲)فهم- عقل- غم- چرت- پروې- رې- احتیاط- (م- فارسي)-

فکرمن:(فـکر-من)اسم صفت- فکرمند- اندېښناک- چرتي-

فکري:(فکـ-ري)صفت- خیالي- سوچي- وهمي- فهمي-

فګار:(فـګار)اسم صفت- واحد- مذکر- زخمي- مجروح- ژوبل- پرهارژلی- خوږ- (م- فارسي)-

فلاح:(فـلاح)اسم- واحد- مؤنث- وعورمه- حفاظت- کامیابي- خوشحالي- (م- عربي)-

فلاحت:(فـلا-حت)اسم- واحد- مونث- زراعت- کرکرونده- (م- عربي)-

فلاخن:(فـلا-خن)اسم- واحد- مونث- مچوغزه- مچوغنه- بلیچون- ترمګوځه- (م- فارسي)-

فلاسفه:(فـلا-سـفه)اسم- جمع فلسفیان- د فلسفي جمع- (م- عربي)-

فلاش:(فـلاش)اسم- واحد- مذکر- د تاش په پاڼو کېدونکې یوه لوبه چې خالص جواري ده-

فلاکت:(فـلا-کت)اسم- واحد- مؤنث- (۱)بدبختي- غربت- (۲)مکلیف- مصیبت- بېبستي- (م- عربي)-

فلان:(فـلان)اسم ضمیر- د یوه نامعلومه یا غیرموجوده سړي یادولو لفظ- غیر مقرر سړی یا څیز- فلانکی- فلانی-

فلان دست مال کول:(فلان-دست-مال-کـ-ول)فعل- چاپلوسي کول- پرېڅې کول-

فلان دسمان:(فلان-دس-مان)کلمه- (۱)ردي بدي- سپکي سپانتي- (۲)اندام نهاني- کس-

فلانکی:(فلان-کی)اسم ضمیر- فلانی- چې نوم یې والنه څستې شي او یل کس یری یوی شي- پلانی- فلان-

فلانی:(فلا-نی)اسم ضمیر- فلانکی- څلان- (م- فارسي)-

فلز:(فلز)اسم- واحد- مؤنث- کچه دهاتونه لکه تانبه، زر- (م- عربي)-

فلزي:(فل-زي)صفت- فلز سره متعلق- د فلز نه جوړ-

فلس:(فلس)اسم- واحد- مذکر- د تانبې یوه وړوکې سکه- لکه پیسه- (م- عربي)-

فلسفه:(فل-س-فه)اسم- واحد- مؤنث- علم موجودات- د حکمت علم-

فلسفي:(فل-س-في)صفت- حکیم- دانشور- هوښیار- عالم- (م- عربي)-

فلفل:(فل-فل)اسم- واحد- مذکر- تور مرچکی- (م- عربي)-

فلق:(فلق)اسم- د سحر سپېدې- (م- عربي)-

فلق:(فلق)صفو فعل- شلول- چول- (م- عربي)-

فلک:(فـلک)اسم- واحد- مذکر- (۱)اسمان- (۲)قسمت- (م- عربي)-

فلم:(فـلم)اسم- واحد- مذکر- سنما- بایسکوپ- (م- انګریزي)-

فلوس:(فـلوس)اسم- د فلس جمع- وړې سکې- (م- عربي)-

فله:(فـله)اسم- واحد جمع- مؤنث- د غوا مېښې وغیره د درې ورځو پی- کنډ- کبداتي- (م- فارسي)-

فلیته:(فـلي-ته)اسم- واحد- مؤنث- د څراغ باتي- فتیله- پټیله- باتي- (م- فارسي)-

فنیل:(فـلیل)اسم- واحد جمع- مذکر- د عطرو په شان یو خوشبویه تېل- عطر فلیل یوځای هم ونیلی کېږي- (م- فارسي)-

فم:(فم)اسم- خله- (م- عربي)-

فم بسته:(فم-بس-ته)اسم صفت- چپ- خاموش- هغه څوک چې خله د خبرو نه سده ساتي- (م- عربي)-

فن:(فن)اسم- (۱)هنر- پوهه- تدبیر- حیله- (۲)مال- (۳)ترټ- (م- عربي)-

فنا:(فـنا)اسم- واحد- مؤنث- ورکېدنه- مرګ- تباهي- زوال- (م- عربي)-

فنا کول:(فـنا-کـ-ول)مصدر لازم- ختمول-

فنجان:(فن-جان)اسم- واحد- مؤنث- پیالی- د قهوې وغیره پیالې- (م- فارسي)-

فندق:(فن-دق)اسم- واحد- مذکر- (۱)د بېرې په شان د سور رنګ یوه مېوه- (۲)چالاک ماشوم چې د عمر په لحاظ زیات ځیرک وي- (م- فارسي)-

فني:(فـني)اسم صفت- هنري- فن پورې مربوط-

فواحش:(فـواحش)اسم- د فاحشه جمع- (۱)بدکارې ښځې- (۲)د بداخلاقي کارونه- (م- عربي)-

فواد:(فـواد)اسم- زړه- ضمیر- قلب- (م- عربي)-

فواره:(فو-واره)اسم- واحد- مؤنث- د اوبو چینه- د داړې په شکل د اوبو راوتنه- (م- فارسي)-

فواق:(فو-واق)اسم- جمع- مذکر- اټکي- (م- عربي)-

فواکه:(فو-وا-که)اسم- د فاکهه جمع- مېوې- فروټ- (م- فارسي)-

فوائد:(فـوا-ئد)اسم- د فائدې جمع- نفعې- ګټې- (م- عربي)-

فوت:(فوت)اسم- واحد- مذکر- مړ- مړ شوی- (م- عربي)-

فوتي:(فو-تي)متعلق فعل- وګورئ فوت-

فوټو:(فو-ټو)اسم- واحد- مذکر- څېره- عکس- تصویر-

فوج:(فوج)اسم- واحد- مذکر- جماعت- لښکر- پوځ- (م- عربي)-

فوجداري:(فوج-دا-ري)اسم- (۱)د فوج افسري- (۲)مجرمانه حرکت- (۳)جګړه- جنګ- (م- فوج عربي- داري فارسي)-

فوجي:(فو-جي)اسم صفت- د فوج فرد- پوځي- پوځی- (م- عربي)-

فوځ:(فوځ)اسم- واحد- فوج- پوځ- عسکر- آرمي- فوز- جمع فوځونه-

فوځي:(فو-ځي)اسم صفت- فوجي- عسکري- د فوځ فرد-

فور:(فو-ر)متعلق فعل- د وخت- ژر تر ژره- بېړ ژر- دستي- ژر- (م- فارسي)-

فورم:(فو-رم)اسم- واحد- مذکر- وګورئ فارم-

www.pukhto.net

فوری:(فو-ری)متعلق فعل- ناګهانه- سمدستي- فوراً- (م- فارسی)-

فوز:(فوز)اسم- واحد- مذکر- وګوری فوح-

فوفنا:(فو-ف-نا)اسم صفت- (۱)بیخي ورک- نابوده- (۲- اسم)ورانیدنه- ختمیدنه-

فوق (فوق)اسم- واحد- مذکر- (۱)اوچت- پورته- ختلے- بر- پاس- (۲)زیاتے- (۲)څوکه- (م- عربی)-

فوقاني:(فو-قا-ني)اسم- (۱)د پورته- اوچت- برنے- پاسنے- (۲)هغه توری چي پورته پری نکته وی- (۲)اعلی- (م- فارسی)-

فوقیت:(فو-قی-یت)اسم- اوچتوالے- بزرګی- برتری- (م- عربی)-

فولاد:(فو-لاد)اسم- پولاد- د اعلی قسم اسپنه- (م- فارسی)-

فولادی:(فو-لا-دی)اسم صفت- (۱)د اسپني جوړ- پولادي- (۲)سخت- (م- فارسی)-

فولکلور:(فول-کلور)اسم- اولسی ادبیات- اولسی پوهه- فوکلور-

فولکلوری:(فول-کلو-ری)اسم صفت- وګوری فولکلور- د فولکلور سره متعلق- (م- فارسی)-

فولیل (فو-لیل)اسم- واحد- مذکر- پوییل- طیل- (م- فارسی)-

فهرست:(فه-رست)اسم- واحد- مذکر- فرد- اسم نویسی- نوم لیکے- (م- عربی)-

فهم (فه-هم)اسم- واحد- مذکر- پوهه- عقل- (م- عربی)-

فهمیده:(فه-می-ده)اسم صفت- دانا- هوښیار- پوی- پوه- (م- عربی)-

فهیم:(فه-هیم)اسم صفت- ډیر پوی- زیات پوی- د لوی فهم خاوند- (م- عربی)-

في:(في)حرف جار- (۱)په معنی کښي د دننه- (۲)د غرمي نه پس د هر څه سوری- (م- عربی)-

في البدیه:(فل-ب-دی)متعلق فعل- (۱)دا وخت- (۲)د سوچ نه بغیر شعر ویل- (۲)ناګهانه- بي له فکره- (م- عربی)-

في الجمله:(فل-جم-له)متعلق فعل- څه نه څه بیا هم- دا مطلب- خلاصه دا ده- (م- عربی)-

في الحال:(فل-حال)متعلق فعل- دا وخت- اوس- في الفور- في الوقت-

في الفور:(فل-فور)متعلق فعل- في الحال- (م- عربی)-

في النار:(فن-نار)متعلق فعل- په اور کښي- (م- عربی)-

في الوقت:(فل-وقت)متعلق فعل- موجوده وخت- في الحال- (م- فارسی)-

في سبیل الله:(في-س-بی-لل-لاه) خدای په لار کښي- د خدای د پاره- (م- عربی)-

فیاض:(ف-یاض)اسم صفت- فیض رسونکے- سخی- خوانمرد- (م- عربی)-

فیته:(في-ته)اسم- واحد- مؤنث- وګوری پیټه- شرشره- کنګوره- کره- (م- فارسی)-

فیس:(فیس)اسم- اجرت- هغه رقم چي طالب علمان ئ سکول یا کالج کښي میاشت په میاشت یا کال په کال ورکوی- په کلینک کښي د ډاکټر د مریض د کتو اجرت- (م- انګریزی)-

فیصد:(فی-صد)اسم- واحد- مذکر- تناسب- (م- عربی)-

فیصدی:(فی-ص-دی)اسم- په تناسب سره- (م- عربی)-

فیل:(فیل)اسم- واحد- مذکر- هاتی- اتی- یو مشهور غټ ځناور- (م- عربی)-

فیل اندامی:(فیل-ان-دا-می)اسم صفت- د هاتي غندي اندام لرونکي- د ښځو خاص صفت- (م- فیل عربی - اندام فارسی)-

فیلبان (فیل-بان)اسم- واحد- مذکر- مهاوت- هاتي چلونکے- (م- فیل عربی- بان فارسی)-

فیل چشم (فیل-چشم)اسم صفت- واحد- مذکر- د ورو ورو سترګو خاوند- تنګ سترګے- (م- فیل عربی- چشم فارسی)-

فیلی:(فی-لی)اسم- بهانه جوړونکے- حیله باز- (م- هندی)-

فیلسوف:(في-ل-سوف)اسم- (۱)عقلمند- دانا- ځیرک- هوښیار- (۲)مکار- (۲)حکیم- صوفی- عالم- (م- یونانی)-

فیر:(فیر)اسم- واحد- مذکر- د ټوپک خلاصدنه- حمله- وار- (م- انګریزی)-

فیروز:(في-روز)اسم صفت- نیک بخت- سعادتمند- خوش نصیبه- کامیاب- (م- فارسی)-

فیروزمندی:(في-روز-من-دی)اسم- واحد- مؤنث- کامیابی- فتح- خوشحالی- (م- فارسی)-

فیروزه:(في-رو-زه)اسم- اسماني رنګ لرونکے یو قیمتي کانړے- (م- فارسی)-

فیروزی:(في-رو-زی)اسم- (۱)کامیابی- بریے- غلبه- (۲- صفت)اسماني رنګے-

فیشن (فی-شن)اسم- (۱)ځان ښائسته کونه- ځان جوړونه- (۲)رواج- دستور- (م- انګریزی)-

فیشني:(فی-شه-ني)اسم- (۱)ځان جوړونکے- ځان ښائسته کونکے- پوړلکے-

فیصل:(فی-صل)اسم- حاکم- منصف- ثالث- فیصله کونکے- (م- عربی)-

فیصل نامه:(فی-صل-نا-مه)اسم- راضی نامه- جوړه- روغه- لیکلی فیصله-

فیصله:(فی-ص-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)قطع- پریکونه- (۲)ختمونه- (۲)انصاف- (۴)ډګری- (م- عربی)-

فیصلي:(فی-ص-لي)اسم- جمع- وګوری فیصله-

فیض:(فیض)اسم- واحد- مذکر- بخښل- خیر- مهربانی- نفع- فائده- (م- عربی)-

فیضان:(فی-ضان)اسم- وګوری فیض-

فی:(فی)اسم- واحد- مذکر- سیورے- سورے- سایه-

ق:(قاف)حرف- د عربي د حروف تهجي يوويشتم د فارسي څلېرويشتم او د پښتو يو دېرشم حرف- دا د عربي خاص حرف دے او د پښتو په هغه الفاظو کښې استعماليږي کوم چې د عربي نه پښتو ته راغلي دي-

ق:(ق)د قمري محمد- قمري کال-

قاب:(قاب)اسم- (۱)لويه رکيبي- لوئ تال- (۲)چوکاټ- فريم-

قاب:(قاب)اسم- (۱)مقدار- اندازه- (۲)د کمان د دستې نه يو کټ پورې فاصله- (م- عربي)-

قابض:(قا-بض)اسم صفت- (۱)قبضه کونکے- قبضه کښې اخستونکے- نيونکے- (۲)هغه خوراک يا دارو چې قبض پيدا کوي- (م- عربي)-

قابل:(قا-بل)اسم صفت- (۱)منونکے- قبلونکے- (۲)پوئ- پوه- هوښيار- دانا- ذهين- لائق- پوهه- (۳)اهل- موزون- وړ- (م- عربي)-

قابلا:(قاب-لا)اسم- واحد- مؤنث- کابله- پيپرۍ-

قابلتوب:(قا-بل-توب)اسم- لياقت- ذهين والے- پوئ والے- قابليت-

قابله:(قا-ب-له)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)هوښياره ښځه- (۲)دايي- (م- عربي)-

قابليت:(قا-بی-لی-يت)اسم- قابلتوب- هوښياري- داناني- موزونيت- دهانت- لائق توب- اهليت- (م- عربي)-

قابو:(قا-بو)اسم- (۱)اختيار- طاقت- وس- (۲)محل- موقع- (۳)ايلا ونلے- (۴)تيار- جمتو- آغر-

قابوچي:(قا-بو-چي)اسم صفت- (۱)دربان- څوکيدار- (۲)خودغرض- سپک- مکوژن- مطلب پرست- جمع قابوچيان-

قابيل:(قا-بيل)اسم- واحد- مذکر- د حضرت آدم عليه السلام مشر ځوئ چې خپل ورور ی قتل کړے وو- د دنيا وړومبے قاتل- (م- سرياني)-

قاپ:(قاپ)اسم- واحد- مذکر- پلېټ- بوښکه-

قات:(قات)اسم صوت- د چرګې شور- د چرګې آواز- کړت- (م- فارسي)-

قات:(قات)اسم- واحد- مذکر- قحط- وچکالي- هغه کال چې د غلې دانې کموست کښې پکښې راشي-

قاتر:(قا-تر)اسم- واحد- مذکر- قاطر- کچر- قچر- (م- ترکي)-

قاتل:(قا-تل)اسم صفت- قتل کونکے- (م- عربي)-

قاتي:(قا-تي)اسم- قحطي- قات- د خوراک ښاک نشت والے-

قاتي ملخ:(قا-تي-مو-لخ)اسم- واحد جمع- مذکر- د قاتي (قحطي) ملخ-

قادر:(قا-در)اسم صفت- واحد- مذکر- د قدرت مالک- طاقتور- غالب-

قادري:(قا-دري)اسم- واحد- مؤنث- کړسه- کړېږے- حلقه- لنډے- اندرکه- چپس-

قار:(قار)اسم- واحد- مؤنث- غصه- قهر-

قار:(قار)اسم صوت- واحد- مذکر- د کارغه آواز- کان کان- قاغ- (م- فارسي)-

قارجن:(قار-جن)اسم صفت- قهرژن- غصه ناک- قهر لرونکے- قارژن- قارمدونکے- لېڅويه- قهري-

قارژن:(قار-ژن)اسم صفت- وګورئ قارجن-

قارغان:(قار-غان)اسم- د کارغه جمع-

قارغه:(قار-غه)اسم- واحد- مذکر- يو تور رنګے مارغه-

قارمدونکے:(قا-رن-دو-نکے)اسم صفت- وګورئ قارجن-

قارون:(قا-رون)اسم- واحد- مذکر- د يو بخيل دولت مند سړي نوم- (م- عربي)-

قاري:(قا-ري)اسم صفت- د قاعدې او د اصولو مطابق د قرآن شريف تلاوت کونه-

قاريدلے:(قا-ري-دلے)اسم صفت- غصه شوے- اوچت شوے-

قاز:(قاز)اسم- واحد- مذکر- يو مارغه چې اکثر په غرونو کښې ئې ښکار کيږي- کوتنه- کوتنه- هيلۍ- بته- مرغابي-

قاسط:(قا-سط)اسم صفت- (۱)ظالم- ستمګر- د حد نه وتلے- (۲)نياوے- منصف- عادل- (م- عربي)-

قاسم:(قا-سم)اسم- واحد- مذکر- (۱)تقسيمونکے- (۲)قسم کونکے- (م- عربي)-

قاش:(قاش)اسم- واحد- مذکر- (۱)وروزه- (۲)ترانشلے- ګيرلے- (۳)د تماچې علامه- (۴)درے- ترازه- پکړه- جمع قاشونه- (م- ترکي)-

قاشق:(قا-شق)اسم- (۱)چمچه- کاشوغه- (۲)کفګير-

قاشقاش:(قاش-قاش)اسم- د يو بوټي نوم چې نرۍ نرۍ دانې کوي- پوپه- د افيمو بوټے- خشخاش- ښنغاش- د کوکنارو د غوټيو تخم- د نباتاتي نوم د پاره وګورئ خاشخاش-

قاشوغه:(قا-شو-غه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)چمچه- قاشق- (۲)پوکه-

قاصد:(قا-صد)اسم صفت- پيغام رسونکے- سفير- پيغام رسان- ځرے- پېک- (م- عربي)-

قاصر:(قا-صر)اسم صفت- عيب ناک- مفلوک- مجبوره- نقصاني- (م- عربي)-

قاضي:(قا-ضي)اسم صفت- واحد- مذکر- منصف- جج- د زوړ بداوي شرعي فيصلې کونکے- (م- عربي)-

قاضيان:(قاض-يان)اسم- د قاضي جمع- وګورئ قاضي-

قاضي توب:(قا-ضي-توب)اسم- واحد- مذکر- د زوړ بداوي د شرعي فيصلو کار کونه-

قاضي القضات:(قا-ضي-يل-قض-ضات)اسم صفت- مشر قاضي- د قاضيانو قاضي-

قاطر:(قا-طر)اسم- واحد- مذکر- کچر- قاتر- (م- ترکي)-

قاطع:(قا-طع)اسم صفت- پريکونکے- ختمونکے- غوڅونکے- (م- عربي)-

قاطن:(قا-طن)اسم- واحد- مذکر- وسېدونکے- ځاۍ لرونکے- مېشت- استېدونے- مقيم- (م- عربي)-

www.pukhto.net

قاعد:(قا-عد)اسم- واحد- مذکر- ناست- (م- عربي)-

قاعدتاً:(قا-ع-دَ-تَن)اسم- رسمي- أصولي-

قاعده:(قا-ع-ده)اسم- واحد- مؤنث-(۱)رسم- دود- (۲)طریقه- اصول- (۳)تره- (۴)آئین- (م- عربي)-

قاغ:(قاغ)اسم صفت- (۱)ړچ- خوږ- وبکر- (م- فارسي)- (۲)د اسم صوت، قارغه اواز-

قاغمه:(قاغ-مه)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم کپړه- (م- فارسي)-

قاغه:(قا-غه)اسم- واحد- مؤنث- کاغه- د قارغه مؤنث-

قاف:(قاف)اسم- (۱)یو قسم سبزي- (۲)د یو غر نوم چې په ترانس کاکېشا کښې واقع دے- (م- عربي)-

قافله:(قا-فِ-له)اسم- واحد- مؤنث- کاروان- د سفر په حال کښې د سوداګرو، مسافرو وغیره پله- (م- عربي)-

قافله باشي:(قا-فِ-له-با-شي)اسم صفت- د کاروان مشر-

قافیه:(قا-فِ-یه)اسم- هغه حرفونه او حرکات چې د شعر په آخر کښې راځي- (م- عربي)-

قاقم:(قا-قم)اسم- واحد- مذکر- د یو ځناور څرمن چې پوستین ترې جوړولے شي- (م- ترکي)-

قال:(قال)اسم- واحد- مذکر- خبرې- بیان- (م- عربي)-

قالب:(قا-لب)اسم- واحد- مذکر- شکل- بدن- ډانچه- سانچه- جسم- (م- عربي)-

قالي:(قا-لي)اسم- واحد- مؤنث- ووړکے قالین- (م- فارسي)-

قالي دریاب:(قا-لي-در-یاب)اسم- (۱)یو سمندر- یو خیالي سمندر- (۲)بحر- قاري دریاب- جمع قالي دریابونه-

قالین:(قا-لین)اسم- واحد- مذکر- د ورۍ لویه غالیچه- غالي- نلین- جمع قالینونه- (م- فارسي)-

قالی:(قا-لی)اسم- واحد- مؤنث- غالي- ووړکے قالین-

قالینچه:(قا-لین-چه)اسم- واحد- مؤنث- زلیچه- غالیچه- ووړکے قالین-

قام:(قام)اسم- (۱)قوم- ملت- (۲)جبل- ذات- جمع قامونه-

قامت:(قا-مت)اسم- واحد- مذکر- بدن- د بدن وږدوالے-

قام والی:(قام-وا-لي)اسم صفت- قومولي- وروروّلي- قامولي-

قاموس:(قا-موس)اسم- واحد- مذکر- (۱)زور سیند- (۲)لغت- پکشنري- (م- عربي)-

قانع:(قا-نع)اسم صفت- صبر کونکے- په خپل قسمت صبر کونکے- (م- عربي)-

قانغوزک:(قان-غو-زک)اسم- واحد- مذکر- یو قسم حشره- غوړاړے- مرغتانه- (م- فارسي)-

قانون:(قا-نون)اسم- واحد- مذکر- دستور- آئین- طریقه- اصول- رسم- (م- عربي)-

قانونا:(قانو-نن)متعلق فعل- د قانون او قاعدې مطابق- (م- عربي)-

قانوني:(قا-نو-ني)اسم- آئیني- اصولي- رسمي- دستوري-

قاهر:(قا-هر)اسم صفت- غصه ناک- قهرناک- (م- عربي)-

قائد:(قا-ئد)اسم صفت- مشر- بزرګ- پیشوا- سرخېل- (م- عربي)-

قائزه:(قائ-زه)اسم- واحد- مؤنث- قبزه- واکې- ملونه- واګه-

قائق:(قا-ئق)اسم- واحد- مذکر- ووړکې کشتي- ماکو- (م- عربي)-

قائل:(قا-ئل)اسم- (۱)ویونکے- (۲)منونکے- اقرار کونکے- معتقد- (۳)قبلوله کونکے- د غرمې اوده کېدونکے- (م- عربي)-

قائلول:(قا-ئي-له-ول)مصدر متعدي- وګورئ قائل- اقرارول- په چا منل- معتقدول-

قائلېدل:(قا-ئي-لې-دل)مصدر لازم- منل- تسلیمول- تسلیمېدل-

قائلېدن:(قا-ئي-لي-دن)حاصل مصدر- وګورئ قائلېدل-

قائلېدنګ:(قا-ئي-لي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ قائلېدل-

قائلېدنه:(قا-ئي-لي-دنه)حاصل مصدر- وګورئ قائلېدل-

قائلېدونکے:(قا-ئي-لي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع قائلېدونکي- مؤنث قائلېدونکې- وګورئ قائلېدل-

قائلېده:(قا-ئي-لي-ده)حاصل مصدر- وګورئ قائلېدل-

قائم:(قا-ئم)اسم- واحد- مذکر- مضبوط- پوخ- تیغ ولاړ- (م- عربي)-

قائم دائم:(قا-ئم-دا-ئم)اسم مرکب- قائم- په خپل ځای هم هغه شان- پوخ- په ځای ولاړ-

قایه:(قا-یه)اسم- واحد- مؤنث- څرمن- پوټکے- پوټ-

قب:(قب)اسم- واحد- مذکر- کُب- د غوښې یا اوښ څټ نه پورته رُچته حصه- (م- هندي کُب)-

قبا:(قَ-با)اسم- واحد- مؤنث- لویه چپنه- لویه جمه- خلکه- خرقه- جمع قباګانې- (م- عربي)-

قباحت:(قَ-با-حت)اسم- نقصان- بدي- عیب- ذلیل کار- (م- عربي)-

قباړی:(قَ-با-ړی)اسم- واحد- مؤنث- کنډې- کډله- د ملوچو اندرکه-

قباله:(قَ-با-له)اسم- واحد- مؤنث- وعده لیکل- د مکان وغیره لیکلے شوې بیعه نامه- سند- (م- عربي)-

قبائل:(قَ-با-ئل)اسم- جمع- مذکر- د قبیلې جمع- عوام- د خاندانونو مجموعه- (م- عربي)-

قبح:(قبح)اسم- واحد- مؤنث- بدي- خرابي- نقصان- (م- عربي)-

قبر:(قَ-بر)اسم- واحد- مذکر- ګور- د انسان ابدي کور- مرستون- پوري- کنج- (م- فارسي)-

قبرپوله:(قَ-بر-پو-له)اسم- کنده- کډۍ- شقے- لحد پوله-

قبرستان:(قبَ-رِس-تان)اسم- واحد- مذکر- مقبره- ګورستان- هدیره- ادیره-

قبرکین:(قَ-بر-کین)اسم صفت- وګورئ قبرکن-

قبرکن:(قَ-بر-کن)اسم صفت- ګورکن- هغه څوک چې قبر جوړوي-

ئ (ئي-ول)، ي (يې-ول)، ی (پیا-لي)، ې (تن-دي-ير) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

قبر کستونکے۔

قبض(ق-بض)اسم۔ (۱)بندېدنه۔ قبضه کېدل راوستنه۔ (۲)د خېټې یوه بیماري۔

قبضول(قب-ض-ول)مصدر متعدي۔ قبض کول۔ نیول۔ تر لاسه کول۔ د ساه لرونکي موجود څخه روح اخستل۔

قبضه(قب-ضه)اسم۔ لاس کښې اخستنه۔ جمته اچونه۔ نیونه۔ (کول کېدل مصدرونه)۔

قبضیات(قب-ضي-يات)اسم۔ جمع۔ وګورئ قبض۔

قبضیت(قب-ضي-يت)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ پېچش۔ قبض۔ د نویو بولو نه کېدنه۔

قبضېدل(قب-ضي-دل)مصدر لازم۔ قبض کېدل۔ نیول کېدل۔ تر لاسه کېدل۔

قبل(ق-بل)متعلق فعل۔ ترمخه۔ اول۔ په شروع کښې۔ رومبے۔ سابقه۔ وړاندې۔ مخکښې۔ (م۔ عربي)۔

قبلول(قب-ل-ول)مصدر متعدي۔ قبلول۔ (۱)منل۔ منظورول۔ (۲)حسن۔

قبلون(قب-ل-ون)حاصل مصدر۔ وګورئ قبلول۔

قبلونکے(قب-ل-ون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع قبلونکي۔ مؤنث قبلونکې۔ وګورئ قبلول۔

قبلونګ(قب-ل-ونګ)حاصل مصدر۔ وګورئ قبلول۔

قبلونه(قب-ل-و-نه)حاصل مصدر۔ وګورئ قبلول۔

قبلوه(قب-ل-وه)حاصل مصدر۔ وګورئ قبلول۔

قبله(قب-له)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ کعبه۔ بیت الله شریف۔ هغه پاک ځائ چې مسلمانان ورته د لمونځ په وخت مخ کوي۔

قبله نماني(قب-له-ن-ما-ني)اسم۔ قبله نما۔ لورے ښودنه۔

قبلنیز(قب-ل-نيز)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د نمر پرېواتنه د طرف قبلنیزه علاقه۔ قبلې ته منسوب۔

قبلېدل(قب-لې-دل)مصدر لازم۔ منظورېدل۔ منل۔ منلے کېدل۔

قبلېدن(قب-لې-دن)حاصل مصدر۔ وګورئ قبلېدل۔

قبلېدنګ(قب-لې-دنګ)حاصل مصدر۔ وګورئ قبلېدل۔

قبلېدنه(قب-لې-د-نه)حاصل مصدر۔ وګورئ قبلېدل۔

قبلېدونکے(قب-لې-دو-نکے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع قبلېدونکي۔ مؤنث قبلېدونکې۔ وګورئ قبلېدل۔

قبلېده(قب-لې-ده)حاصل مصدر۔ وګورئ قبلېدل۔

قبول(ق-بول)مصدر۔ اسم۔ (۱)منننه۔ منظور۔ (۲)رضا۔ خوښه۔ (۳)خوښ۔ (م۔ عربي)۔

قبیح(ق-بيح)اسم صفت۔ نامناسبه۔ بدرنګه۔ خلاف۔ د اخلاقو خلاف۔ ناوړه۔ ناپوره۔

قبے(ق-بے)اسم صفت۔ کبے۔ ملاتیټے۔ ساتھے۔

قبیل(ق-بيل)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ قسمه۔ نوع۔ جېل۔ خاندان۔ اولس۔ ډله۔

قبیله(ق-بي-له)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ خاندان۔ د ډېرو خاندانو مجموعه۔

قبیلوي(ق-بي-ل-وي)اسم صفت۔ د قبیلې۔ قبیلې سره متعلق۔

قپ(قپ)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وازه۔ بې غابښو (خله)۔ کړشه (خله)۔

قپا(ق-پا)اسم صوت۔ چرپ چرپ۔ د خوراک په وخت د سپي د خلې آواز۔

قپان(ق-پان)اسم۔ لویه تله۔ دړ۔ (م۔ فارسي)۔

قپان چي(ق-پان-چي)اسم صفت۔ تلونکے۔ سون کونکے۔ پېټي۔ دروانی۔ (م۔ فارسي)۔

قپما(قپ-ما و-پما)اسم۔ وګورئ کېما۔

قپے(ق-پے)اسم صفت۔ وره خله لرونکے۔ کپے۔

قت(قت)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)سهم۔ (۲)قطار۔ جمع قتونه۔ (۲)د یو بل له پاسه۔ په یو بل پسې۔

قت(قت)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ عاړه۔ قتے۔ قتی۔ وزغے۔ پوغل۔ جمع قتی۔

قتار(ق-تار)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ قطار۔ (۱)د لسو اوښانو مجموعه۔ (۲)کتې۔ صف۔ لائن۔ لړی۔

قتره(ق-تا-ره)اسم صفت۔ کجه پوچه۔ بې هوده۔

قتن(ق-تان)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ جنګ۔ جګړه۔ (م۔ عربي)۔

قتره(قت-ره)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)قطره۔ (۲)د عربي تکړه۔ جمع قترې۔

قتمه(ق-تم)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ سرکاري۔ سائن۔ کمم۔ نکولے۔ اینګولے۔ لاړې۔ معوبے۔

قتکابے(قت-کا-بے)اسم صفت۔ سخت کابے۔ د شکې او خاورې نه جوړ شوے کابے۔ کنکبے۔

قتکوړے(قت-کو-ړے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د مزرو نه جوړه شوې جالېداره تنی۔

قتل(ق-تل)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ مرکونه۔ ساه ویستنه۔ ختمونه۔ وژنه۔ مرګ۔ (م۔ عربي)۔

قتل ګاه(ق-تل-ګاه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ د وژلو ځائ د قتلولو ځائ۔

قتلول(قت-ل-ول)مصدر متعدي۔ وژل۔ قتل کول۔ مړول۔ مړکول۔

قتلون(قت-ل-ون)حاصل مصدر۔ وګورئ قتلول۔

قتلونکے(قت-ل-ون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع قتلونکي۔ مؤنث قتلونکې۔ وګورئ قتلول۔

قتلونګ(قت-ل-ونګ)حاصل مصدر۔ وګورئ قتلول۔

قتلونه(قت-ل-و-نه)حاصل مصدر۔ وګورئ قتلول۔

قتلوه(قت-ل-وه)حاصل مصدر۔ وګورئ قتلول۔

قتلېدل(قت-لې-دل)مصدر لازم۔ قتلول۔ وژل۔ د بل د لاسه مړکېدل۔

قتلېدن(قت-لې-دن)حاصل مصدر۔ وګورئ قتلېدل۔

قتلېدنګ(قت-لې-دنګ)حاصل مصدر۔ وګورئ قتلېدل۔

قتلېدنه(قت-لې-د-نه)حاصل مصدر۔ وګورئ قتلېدل۔

قتلېدونکے(قت-لې-دو-نکے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع قتلېدونکي۔

رمز ... (شل)، پېښور (نو-کا-ره) رمز (ک-تاب)، جزم (شکوي)، (ز-وه) (پو-ښي-ده)

www.pukhto.net

مؤنث قتلېدونکې- وګورئ قتلېدل-

قتلېدهٔ(قت-لې-ده)حاصل مصدر- وګورئ قتلېدل-

قتي(ق-تي)اسم- واحد- مؤنث- کېږه-

قتيل(ق-تيل)اسم صفت مفعول- مړ کړے- قتل کړے- مقتول- وژلے- (م- عربي)-

قتي(ق-تي)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)پهٔ زنه کښې وروکې سان کمده- د ماتومانو يوه لوبه-

قتي(ق-تي)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)وګورئ قتے- (۲)دسے- ديے- د سوارو قتي- (م- ترکي)-

قتے(ق-تے)اسم- واحد- مذکر- باڑه- د شرمښې يا مالوچو سره حوړ شوے بال- پيوس-

قتے(قُ-تے)اسم- واحد- مذکر- قُت- قُتي- بوغے- بوغل- قُتاره- جمع قُتي-

قته ګُته(ق-ته-ګُ-ته)اسم صفت- کته ګُته- غټه ګُټه- د لاس يا پښې غټه ګُته- د نورو ګُتو نه لوه پيره ګُته-

قجير(ق-جير)اسم- واحد- مذکر- کجير- (۱)کرکس- (۲)غښتلے- کلک پلک- (۳)پهٔ او کامل سړے- صادق سړے-

قچر(ق-چر)اسم- واحد- مذکر- (۱)خچر- (۲)بې شرمه- بې حيا- لوفر-

قچرے(قچ-رے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم نمده چې د زين لاندې اچولے شي-

قچه ګُته(قَ-چه-ګُ-ته)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وروکې ګُته- د لاس يا پښې د ټولو نه وروکې ګُته-

قچے(ق-چے)اسم- واحد- مذکر- جمات- اتفاق-

قحبه(قح-به)اسم صفت- واحد- مؤنث- رنډۍ- ورانه (ښځه)- بدکاره- فحاشه-

قحط(قحط)اسم- واحد- مذکر- پوکال- د غلې کمے- وچ کالے- کراني- قحطي- اړتې- اناني- قات- جمع قحطونه- (م- عربي)-

قحط سالي(قحط-سا-لي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پوکال- د قحطي کال- وچ کالے-

قحطي ملخ(قح-طي-م-لخ)اسم- هغه غټ او شين رنګې ملخان چې پهٔ فصل راوالوځي نو قحط راولي- قاتي ملخ-

قحطي(قح-طي)اسم- واحد- مؤنث- کراني- خشک سالي- قحطي-

قد(قد)اسم- واحد- مذکر- د بدن زوروالے- قامت-

قدانداز(قد-ان-داز)اسم صفت- د ووه اندام خاوند-

قدر(ق-در)اسم- واحد- مذکر- (۱)عزت- شان- (۲)قيمت- مقدار- اندازه-

قدرت(قد-رت)اسم- واحد- مذکر- (۱)اختيار- طاقت- (۲)قوت- (۳)توان- زور-

قدرتي(قد-رتي)اسم- خدايي- فطرتي- اصلي- لهٔ خايه-

قدرمن(ق-در-من)اسم صفت- واحد- مذکر- قدر کونکے- پهٔ قدر پوه-

قدرمن(ق-در-من)اسم صفت- قدر لاوي- د قدر سړے- قدرمند-

قدرمند(ق-در-مند)اسم صفت- وګورئ قدرمن-

قدري(قد-ري)صفت- قدرمن- قيمتي- د قدر قابل- قدرمند-

قدري(قد-ري)متعلق فعل- لږ شان- لکوټې- معمولي شان-

قدغن(قد-غن)اسم- واحد- مذکر- روکاوټ- پابندي- تاکيد- کتغن-

قدم(ق-دم)اسم- واحد- مذکر- (۱)ډېر زيات زوروالے- د وخت او زمانې نه پخوالے- (۲)زوړيدنه- (م- عربي)-

قدم(ق-دم)اسم- واحد- مذکر- (۱)د پښې نښه- (۲)ګام- يو قدم پسې بل قدم- (م- عربي)-

قدما(ق-د-ما)اسم- د قديم جمع- د محکښې زمانې- سابقه- وړاندېني- زاړه-

قدوري(ق-دو-ري)اسم- واحد- مذکر- د اسلامي فقهې د مشهور کتاب نوم-

قدوس(قد-دوس)اسم صفت- ډېر پاک- ډېر سپيځلے- د الله تعالى يو صفتي نوم-

قد و قامت(ق-دو-قا-مت)اسم- ونه- دره- ويل دول- ونه او ځنه- قدقامت- جوړښت-

قدوم(ق-دوم)اسم- واحد- مذکر- راتلل- تشريف راوړنه- (م- عربي)-

قدوه(قد-وه)اسم- واحد- مذکر- (۱)پېشوا- پير- رهبر- (۲)منتخب چاړ شوے- (۳)مثال- نمونه- (م- عربي)-

قدير(ق-دير)اسم صفت- د الله تعالى يو صفتي نوم- طاقتور- د طاقت خاوند- بااختياره- (م- عربي)-

قديم(ق-ديم)صفت- (۱)د محکښې زمانې- د وړاندېنو وختونو- لرغونے- وړاندېنے- ورومبے- قديمي-

قديمي(ق-دي-مي)اسم صفت- زوروالے- د زړې زمانې- د محکښې وختونو- قديم-

قرابت(ق-را-بت)اسم- واحد- مذکر- نږدېکت- رشته داري- يو بل سره خپلولي- (م- عربي)-

قرار(ق-رار)اسم- واحد- مذکر- (۱)اطمينان- سکون- ارام- (۲)مطمئن- قلار- غلے- چُپ-

قرارداد(ق-رار-داد)اسم- واحد- مذکر- وعده- فيصله- تړون-

قرارول(ق-را-رول)مصدر متعدي- (۱)قلارول- آرامول- تيکاوول- هوس کول- (۲)منع کول- مړول- غلے کول- خاموشه کول-

قرارون(ق-را-رون)حاصل مصدر- وګورئ قرارول-

قراروېنګ(ق-را-روېنګ)حاصل مصدر- وګورئ قرارول-

قراروونکے(ق-را-روون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع قراروونکي- مؤنث قراروونکې- وګورئ قرارول-

قراروونه(ق-را-روو-نه)حاصل مصدر- وګورئ قرارول-

قراروهٔ(ق-را-روهٔ)حاصل مصدر- وګورئ قرارول-

ي (ـي-ـرل)، ي (ـي-ـوه-ـول)، ي (ـيـا-ـلي)، يه (ـتي-ـدي) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

قراره شومه(ق-را-ره-شو-مه)اسم صفت- قلاره شومه- شومه دې- هغه وخت چې شپه پخه شي-

قراري(ق-را-ري)اسم- واحد- مونث- (۱)ارامي- قلاري- (۱)چپتيا- خاموشي- (۲)خير خيريت-

قراريدل(ق-را-ري-دل)مصدر لازم- هوسا كېدل- ارامېدل- قلارېدل- ټيكاوېدل- علے كېدل- چپ كېدل-

قراريدن(ق-را-ري-دن)حاصل مصدر- وګورئ قرارېدل-

قراريدنګ(ق-را-ري-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ قرارېدل-

قراريدنه(ق-را-ري-دنه)حاصل مصدر- وګورئ قرارېدل-

قراريدونكے(ق-را-ري-دون-كے)اسم فاعل- واحد- مذكر- جمع قرارېدونكي- مونث قرارېدونكې- وګورئ قرارېدل-

قرارے(ق-را-رے)اسم- وګورئ قلارے-

قراول (ق-را-ول)اسم- مذكر- د فوځ هغه دسته چې د نګرانۍ په خاطر د لوئ فوځ نه مخكښې مخكښې روانه وي- سرونړ- سروانړے-

قران(ق-ران)اسم- واحد- مذكر- د قران اصل معنٰى نژدې كېدنه دي- دلته ترې مطلب د نحس ستورو يوځاې كېدل او په نتيجه كښې مصيبت دے-

قرآن(قر-آن)اسم- واحد- مذكر- د الله پاك آخري كتاب- د مسلمانانو مقدس كتاب- كلام الله- فرقان-

قرآن پانه(قر-آن-پا-نه)اسم- واحد- مؤنث- په ګلونو او باغونو كښې الوتونكې د مختلفو رنګونو يوه بنائسته حشره- د ليپي ډوپټيره (LEPIDOPTERA) عام نوم چې د پتنګ نه ئې فرق د انټينا په وجه كيږي- تارو- تارورزے- تارو غاړي- تاروكي- تاروكے- كوكي- كمبلي- بوتلكي- كوكري- بلبنې- پوبلي- بلبله- ګلي ناه- باپړي- پخمني- سالمكي- پمپوسي- مننلي- نولخته- سبوزے- لولي- پرپركے- سامبه ساسكي- پولبونكي- پتنګ-

قراب(ق-راب)اسم- ئسمه- زبيه- سمب-

قرائن(ق-را-ئن)اسم- جمع- د قرينه جمع- وګورئ قرينه-

قربان(قر-بان)اسم- واحد- مذكر- خار- نثار- فدا- ورووي- جارے- (م- عربي)-

قربانول(قر-با-نول)مصدر متعدي- فدا كول- ځان قربانول- نثارول- جارول- د خداې په لاره كښې صدقه وركول- ورول-

قرباني(قر-با-ني)اسم- واحد- مؤنث- د خداې په لار كښې څاروے حلالونه- حلالے- ذبح كونه- جارے- اخترے- د قربانۍ عمل- ايثار-

قربانيدل(قر-با-ني-دل)مصدر لازم- نثارېدل- فدا كېدل- د خداې په لار كښې صدقه كېدل- ورووېدل-

قربانيدن(قر-با-ني-دن)حاصل مصدر- وګورئ قربانېدل-

قربانيدنګ(قر-با-ني-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ قربانېدل-

قربانيدنه(قر-با-ني-دنه)حاصل مصدر- وګورئ قربانېدل-

قربانيدونكے(قر-با-ني-دون-كے)اسم فاعل- واحد- مذكر- جمع قربانېدونكي- مؤنث قربانېدونكې- وګورئ قربانېدل-

قربانده(قر-با-ني-ده)حاصل مصدر- وګورئ قربانېدل-

قربت(قر-بت)اسم- واحد- مذكر- نږدېكت- نژدې والے- قرب-

قرت(ق-رت قرت)اسم- واحد- مذكر- وچ پنير- قروت- وچې كړې شوملې-

قرت كاڼے(قرت-كا-ڼے)اسم- واحد- مذكر- د چونې كاڼے- كمكړ- خټينې شان-

قرص(قرص)اسم- واحد- مذكر- ګول چكى- ټيكلې- ټيكله- ټكى- ګولي- چكى- كلچه- كولچه- چاكليټ- (م- عربي)-

قرض(قرض)اسم- واحد- مذكر- بدله- دين- موس- پور- وام-

قرض دار(قرض-دار)اسم صفت- مقروض- چې قرض ورپورې وي-

قرضه(قر-ضه)اسم- واحد- مؤنث- قرض- پور-

قرط(قرط)اسم- واحد- مؤنث- والۍ- په غوږونو كښې د اچولو يو كالے- نسمى-

قرطاس(قر-طاس)اسم- واحد- مذكر- كاغذ- ليك پاڼه-

قرعه(قر-عه)اسم- واحد- مذكر- پاس- فسك- پچه- خسنے-

قرغ(قرغ)اسم- ناعه- ضبطي- بندز- كورو- بند- شپول- وګورئ قرق- (م- عربي)-

قرغ كول(قرغ-كول)مصدر- قرق كول- ناعه كول- ضبط كول- سركاري كول-

قرغندل(قر-غن-دل)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم بوټے- كورغندل-

قرغيچن(قر-غي-چن)اسم صفت- د ساړه نه رپېدونكے- قرقېچن-

قرق(قرق)اسم- قرغ- (۱)ضبطونه- منع كونه- اودرونه- (۲)صحت ركاوټ- (م- عربي)-

قرقره(قر-ق-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)غړغره- (۲)د مستۍ په وخت د غوى وغيره لګى نېغونه- (۳)د ملرغه د سر د وښتو خونړے-

قرقري(قر-ق-ري)اسم صوت- قرقر- قرخور- د اس وغيره د ګېډې آواز-

قرق كېدل(قرق-كې-دل)فعل مصدر- قرغ كېدل- ضبطېدل- سركاري كېدل- ناعه كېدل-

قرقېچن(قر-قي-چن)اسم صفت- واحد- مذكر- وګورئ قرغېچن-

قرمزي(قر-م-زي)اسم صفت- سور رنګ-

قرمساق(قر-م-ساق)اسم صفت- بېروا- دووس- ډله- چړوس- (م- تركي)-

قرن(ق-رن قرن)اسم- صدى- پشت- يوه اندازه چې سل كاله فرض كړے شوي دے-

قرنا(قر-نا)اسم- كول- اصل توري "كرنا" دے- لويه شپېلې- بګل- بېګل- توري- (م- فارسي)-

قرناوے(قر-نا-وے)اسم- د ښكر بېګل- ناقوس- توري- سرناه- سرنا-

قرنيكه(قر-ني-كه)اسم صفت- عور نيكه-

قرزل(ق-رزل)اسم- واحد- مذكر- ښكاري- صياد-

زبر (ح-مه-ره) زوركے (شل) پېښ (مو-كيا-ره) زير (ك-ساب) جزم (شكون) ه (ر-يږه) ۀ (پو-سي-ده)

قرولي(ق-رو-لي)اسم- واحد- مؤنث- لويه چاړه- د ښکاريانو چاقو- (م- هندي)-

قره قل(ق-ره-قل)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم ټوپۍ-

قريب(ق-ريب)اسم- (۱)نژدې- خوا کښې- متصل- (۲)رشته دار- همسايه- (م- عربي)-

قريبا (ق-ري-بن)اسم- واحد- مذکر- تقريبا- نژدې نژدې-

قريبي(ق-ري-بي)اسم صفت- نژدې- ډېر نژدې- رشته دار-

قريحه(ق-ري-حه)اسم- واحد- مذکر- (۱)صلاحيت- فطرت- (۲- صفت)خالص- بې عيبه- (م- عربي)-

قريض(ق-ريض)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ستدره- شعر- (۲)ستايونه- (م- فارسي)-

کانکی:(کانګ-کی)اسم- واحد- مؤنث- دَ آواز راتمبېدنه- پهٔ غرهٔ یا ګنبد کښې دَ اواز بیرته راګرځېدنه یا دوباره اورېدنه- انګی- ازانګه-

کانون:(کا-نون)اسم- واحد- مذکر- نغرے- أنغرے- اورغالے- دَ اور دَ بلولو خاص ځایَ- (افغانستان)-

کانه:(کا-نه)اسم- واحد- مؤنث- سرکنډے- یو قسم وابنه-

کانه:(کا-نه)اسم- واحد- مؤنث- قیصه- نقل- حکایت- (۲)کماره- (۳)ماشومې- (۴)ضرر- (۵)ناکاپی پېښه- حادثه- آفت- تکلیف- رنځ- غم- (۶- صفت)احمق- کمعقل- (۷)مخذا- خوسا- جمع کانې-

کانه رانه:(کا-نه-را-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)تِل متول- نکړی مکړی- اتې باتې- اخوا دېخوا- (۲)عجیبه پېښه-

کانی:(کا-نی)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- (۱)دَ کان نه راوتے شے- معدنی- (۲)اصلی- بنیادی-

کانې:(کا-نې)اسم- جمع- مؤنث- دَ کانه ۲جمع- وګورئ: کانه-

کانی:(کا-نی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ټپر- (۲)دَ غوږ سُورے- (۳)دَ غوږ والی- (۴)دَ غشی څوکه-

کاڼ:(کاڼ)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ بلوط دَ ونې پهٔ رنګ یوه غرنیزه ونه- (۲)بوزغلے-

کاڼ:(کاڼ)اسم- واحد- مذکر- برنګ- تروپ-

کاڼلو:(کا-ڼلو)اسم- مذکر- (۱)دَ لوماړی اوزلو-

کاڼل:(کا-ڼل)مصدر- څهٔ کار کول- (متروک)-

کاڼوټه:(کا-ڼو-ټه)اسم- واحد- مؤنث- کېتی- پیره-

کاڼوده:(کا-ڼو-ده)اسم- واحد- مؤنث (۱)موږے- (۲)کنهاره- (۳)دَ اسونو یا خارو نوکه- جمع کاڼودی-

کاڼوکی:(کا-ڼو-کی)اسم- واحد- مؤنث- کړکی- وړه دروازه-

کاڼه:(کا-ڼه)اسم صفت- چغ سترګې- دَ یوې سترګې خاوند- کورسترګې-

کاڼه:(کا-ڼه)اسم- واحد- مؤنث- کالے- ربوړ- پسول- ګلهه-

کاڼه:(کا-ڼه)اسم صفت- (۱)هغه څوک چې خبرې نهٔ شی اورېدلے- (۲)کاڼے-

کاڼه:(کا-ڼه)اسم- بهګال- نړلوځ- یو قسم وابنهٔ نباتاتی نوم سیکهرم سپلیرے SACCHARUM CILIARE-

کاڼی بوټی:(کا-ڼی-بو-ټی)اسم- جمع- مذکر- هر څهٔ ګروړ- کائنات-

کاڼی ټک:(کا-ڼی-ټک)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)دَ کاڼو ټکولو مزدور- (۲)کاڼی کړپ- دَ ماشومانو یوه لوبه-

کاڼیز:(کا-ڼیز)اسم صفت- سخت- کلک- لهٔ کاڼو سره متعلق-

کاڼیزه:(کا-ڼی-زه)اسم صفت- مؤنث- کاڼیزه زمکه- دَ کاڼو پکه-

کاڼی کړپ:(کا-ڼی-کړپ)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ: کاڼی ټک-

کاڼی کودی:(کا-ڼی-کو-دی)اسم- جمع- مذکر- کالی کودی- دَ کور سامان- اسباب- اسباب-

کاڼی کورم:(کا-ڼی-کو-رم)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)پېر زور تالاؤ- (۲)هغه تالاؤ چې غاړې ئې پهٔ کاڼو پخې کړے شوی وی- (۳)بیخی وړک کندہ-

کاڼین:(کا-ڼین)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ کاڼو او تیږو زمکه- کاړ- (۲)کاڼی سره تعلق لرونکے-

کاڼی:(کا-ڼی)اسم صفت- مؤنث- دَ کاڼی مؤنث- وګورئ: کاڼے-

کاڼے:(کا-ڼے)اسم- واحد- مذکر- (۱)نابغه- دَ پښتنو دَ یو دستور نامه- (۲)دَ وزن کولو (تللو) پېره (کاڼے)-

کاڼے:(کا-ڼے)اسم صفت- واحد- مذکر- یو سترګے- دَ یوې سترګې خاوند- پهٔ یوه سترګه ړوند-

کاڼے:(کا-ڼے)اسم- واحد-مذکر- غرګے- (۱)کاټے- غټه کټه- تیږه- ډبری پېره- (۲- صفت)سخت-

کاڼے رګے:(کا-ڼے-رګے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)سخت- (۲)وران- ورانکارے-

کاواک:(کا-واک)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)مینځ کښې خالی- (۲)سرګردان- (۳)پرېوتونکے- (۴)بې پروا-

کاواکه:(کا-واکه)اسم- واحد- مؤنث- آواره- بې هوده- سرګردانه- ارتیاکه- جمع کاواکې-

کاوخی:(کاو-خی)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)کوخی- کمڅی- کونځی- دَ وبښتو چونتهه- (۲)مالیښت- مالوښت- پېژندنه-

کاودے:(کاو-دے)اسم- واحد- مذکر- دَ کړوسی خوځ- جمع کاودی-

کاوړ:(کا-وړ)اسم- واحد- مذکر- قهر- غصه- غضب- پرغذ- بړاس- دوګ- برچ- ګواښ-

کاوړېدل:(کا-وړ-ې-دل)مصدر لازم- پهٔ غصه کښې راتلل- غصه کېدل- قهرېدل-

کاوړېدلے:(کا-وړ-ې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع کاوړېدلی- مؤنث کاوړېدلې- وګورئ: کاوړېدل-

کاوړېدن:(کا-وړ-ې-دن)حاصل مصدر- وګورئ: کاوړېدل-

کاوړېدنګ:(کا-وړ-ې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ: کاوړېدل-

کاوړېدنه:(کا-وړ-ې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ: کاوړېدل-

کاوړېدونکے:(کا-وړ-ې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع

ئ" (څی-ړل)، ې"(مې-رمنې)، ی"(پیا-لی)، ے"(تن-دیے) تفصیل دَ پاره وګورئ: تشریحات صفحه ۱

www pukhto net

کاروېدونکیٔ- مونث کاروېدونکې- وګورئ کاروېدل-

کاروېدهٔ (ک-ود-رې-ده):حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ کاروېدل-

کاروړے:(کا-وړ-ړے)اسم صفت- (۱)غصه کونکے- قهرژن- (۲)سخت- کلک- شدید- تینګ-

کاوش:(کا-وش)اسم- واحد- مذکر- تلاش- جستجو- کوشش- هڅه-

کاوکیو:(کاو-کیو)اسم مرکب- هله ګله- شور زوږ-

کاوو:(کا-وو)اسم- واحد- مذکر- کاورنه- ګره پانړه- پانړو- کاهو- هغه مشهوره سبزي چې کچه خوړلے شي-

کاورنه:(کا-وو-نه)اسم- واحد- مونث- وګورئ کاوو-

کاوه:(کا-وه)اسم- واحد- مونث- (۱)یو قسم بوټے- (۲)ماوه- قهوه- شنه چای- شین چے- شنې چای-

کاوهٔ:(کا-وه)د کول مصدر نه ماضي استمراري-

کاوین:(کا-وین)اسم- (۱)جهیز- زلور- کابین- هغه سامان چې مور پلار ئې وېدونکې جینۍ له کوي- (۲)مهر- (۳)د وادهٔ د ورځې پروړي-

کاه:(کاه)اسم- وچ رابنډ- واښه- خسیے-

کاه:(کاه)اسم- واحد- مذکر- خارښت- خارښت- کهه-

کاه دانه:(کاه-دا-نه)اسم- واحد- مؤنث- پله- بوسارهٔ-

کاه ربا:(کاه-ر-با)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ اکربه- (م- فارسي)-

کاهشته:(کا-هش-ته)اسم صفت- (۱)خارښتي- پمن- (۲)بدرنګ-

کاهس:(کا-هس)اسم- (۱)کمے- کمېدنه- (۲)تکلیف-

کاهښت:(کا-هښت)اسم- (۱)خارښت- (۲)عبث- بې کاره- بې فائدې- (۳)تشویش- وسواس-

کاهکشان:(کاه-که-شان)اسم- مذکر- بلدل لاره- اسمان لاره- هغه ستورې چې په اسمان کښې د لارې په شان ښکاري- (م- فارسي)-

کاهل:(کا-هل)اسم صفت- سست- په کار کښې دلچسپي نهٔ اخستونکے- بې کاره- بې همته- (م- فارسي)-

کاهن:(کا-هن)اسم- واحد- مذکر- د غیبو پېشن ګوئي کونکے- غیب ګو- توریتي- جمع کاهنان- (م- عربي)-

کاهو:(کا-هو)اسم- واحد- مذکر- کاوو- یو سبزي چې کچه خوړے شي- پانړو- کاوو-

کاهي:(کا-هي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ کاهے-

کاهېدل:(کا-هې-دل)مصدر لازم- خارښتېدل- ګرېدل-

کاهېدن:(کا-هې-دن)حاصل مصدر- وګورئ کاهېدل-

کاهېدونکے:(کا-هې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ کاهېدل-

کاهېدونے:(کا-هې-دو-نے)اسم مفعول- وګورئ کاهېدل-

کاهېدهٔ:(کا-هې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ کاهېدل-

کاهېول:(کا-هې-ول)مصدر لازم- وګورئ کاهېدل-

کاهے:(کا-هے)اسم- واحد- مذکر- کاهي- د قلعه نه ګېر چاپېر خندق-

کائل:(کا-ئل)اسم- واحد- مذکر- خاندان- ټبر- کول-

کائن:(کا-ئن)اسم- واحد- مذکر- موجود- حاضر- (م- عربي)-

کائنات:(کا-ئِ-نات)اسم- جمع- مخلوقات- موجودات- هر څهٔ چې په زمکه موجود دي-

کایه:(کا-یه)اسم- واحد- مؤنث- کانټې- جلد- جمع کایې-

کاني:(کا-ني)اسم صفت- ژور- عمیق-

کانے:(کا-نے)اسم- واحد- مذکر- کلے- کهے- درمه- نباتاتي نوم سکچرم سپان ټېنیم SACCHARUM SPONTANEUM-

کب:(کب)اسم- واحد- مذکر- (۱)مهے- ماهے- مڅے- (۲)د یوې میاشتې نامه- جمع کبان- (افغانستان)-

کُب:(کب)اسم- واحد- مذکر- قب- (۱)د اوښ غونې وغېره د ملا هغه ځائ چې مورہ شان وي یعني بهر راوتے وي- (۲)د بعضې انسان په ملا کښې راوتلے غوړکے-

کباب:(ک-باب)اسم- واحد- مذکر- کبابه- (۱)په سیخ یا کړي کښې د اورو او قیمې نه جوړ شوے تېکالے- ورته- وریته- (۲)صفت- جلبل- سڅي- جمع کبابونه- (م- فارسي)-

کبابول:(که-با-به-ول)مصدر متعدي- سڅي کول- وریتول- جلبل کول-

کبابونه:(که-با-به-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ کبابول-

کبابونکے:(که-با-به-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ کبابول-

کبابه:(که-با-به)اسم- واحد- مؤنث- د تورو مرچو په شان یو خوشبودار تخم چې ډېر تریخ وي او په دارو کښې هم پکارېږي- نباتاتي نوم پائپر کوبیبه PIPER CUBEBA- (م- فارسي)-

کبابي:(که-با-بي)اسم صفت- واحد- مذکر- کباب پخونکے- هغه څوک چې کباب پخوي- (م- فارسي)-

کبابېدل:(که-با-بې-دل)مصدر لازم- وریتېدل- سڅي کېدل- سوزېدل- تلېدل-

کبابېدنه:(که-با-بې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ کبابېدل-

کبابېدونکے:(که-با-بې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ کبابېدل-

کبابېدهٔ:(که-با-بې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ کبابېدل-

کباپ:(که-باپ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کباب-

کباپچنه:(که-باپ-چه-نه)اسم صفت- واحد- مؤنث- وګورئ کباپچه-

کباړ:(که-باړ)اسم- واحد- مذکر- زړې پرزې- زاړهٔ مشینونه- مات ګډ ډېرونه یا اسباب وغېره-

کباړي:(که-با-ړي)اسم صفت- (۱)د کباړ- کباړ سره متعلق- (۲)کباړ خرڅونکے-

کبر:(که-بر)اسم- واحد- مذکر- (۱)غرور- تکبر- (۲)ناشکري- (۳)لرې والے- لوني- (۴)سپین ویرتوب-

کبرڅې:(که-بر-څې)اسم- واحد- مذکر- هغه مارغهٔ چې د خپلې لوې مېږکې

www.pukhto.net

په ذريعه لۀ ونو چيچلې رژماسې او خوري-

کبرداغ (کہ-بر-داغ) اسم- هغه عوسه چي يو ځای قورمه کړے شی او بيا ورو ورو خوړے شی-

کبرژن (کہ-بر-ژن) اسم صفت- واحد- مذکر- متکبر- مغرور- کبر کونکے-

کبرژنی (کہ-بر-ژنی) اسم- واحد- مؤنث- مغرورتيا- کبر کونه-

کبرعان (کہ-بر-عان) اسم- د سرې يو قسم-

کبرغان (کہ-بر-غان) اسم- واحد- مذکر- يو غرنيز ځناور- کبرغے-

کبرغے (کہ-بر-غے) اسم- واحد- مذکر- وګورئ کبرغان-

کبريائی (کب-ری-یا-ئی) اسم- مؤنث- لوئی- بزرګی- (م- عربی)-

کبريت (کہ-مدی-یت) اسم- د کبر کولو حالت- (م- عربی)-

کبر (ک-بر) اسم صفت- واحد- مذکر- کب لرونکے- کبے- قبے- شاوتے- هغه څوک چي ملا ئې راټيټه وی- کبړے- مؤنث کبړی- (م- هندی)-

کبر (کہ-بر) اسم- واحد- مذکر- کلک بوړے چي اَس پوري تړلے شی- کبړ-

کبړی (کب-ړی) اسم صفت- د کبړ مؤنث- وګورئ کبړ-

کبړے (کب-ړے) اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ کبړ-

کبک (کبک) اسم- واحد- مذکر- زرکه- يو ښائسته مارغه- سائنسی نوم الیکتوری یس ګريکا ALECTORIS GRAECA- (م- فارسی)-

کمل (کہ-مل) اسم- واحد جمع- مذکر- يو قسم واښه چي په زمکه خوريږی- عام طور سره تری چمن تکرلے شی- غوږو جوړولو کښي هم پکارولے شی- نباتاتي نوم سينوډن ډکټی لين CYNODON DACTYLON-

کبل (کہ-بل) اسم- وجه- سبب- باعث- کېده-

کبلزار (کہ-بل-زار) اسم صفت- هغه زمکه چي کبل پکښي وی- چمن-

کبله (کہ-بله) اسم- سبب- وجې- کبل-

کبل ها (کہ-بل-ها) اسم- واحد جمع- مذکر- د کبل په ونو کښي وړی وړی تورې دانې چي پې لری-

کبلی (کہ-بلی) اسم صفت- کبل لرونکے ځای- چمن-

کبلی (کہ-بلی) اسم- واحد- مؤنث- ښکی- تانکه- ټانکه- د سورلی هغه کلې چي سپه ئې راکاږی-

کبلے (کب-لے) اسم- واحد- مذکر- د موسی مچے- جمع کبلی-

کبلے (کبلے) اسم- واحد- مذکر- د ماشومانو يو قسم بيماری-

کبند (کہ-بند) اسم صفت- مست او وران اوښ چي قابو کښي راوستے نه شی-

کب نيونے (کب-نی-و-نے) اسم صفت- هغه سړے چي کبان نيسی- مچی مار- ماهی ګير-

کبود (کہ-بود) اسم- واحد- مذکر- سلی- نيلګون- شين- آسمانی رنګ- (م- ترکی)-

کبودچه (کہ-بود-چه) اسم- واحد- مذکر- يو قسم شين رنګ لرونکے د تره شی توبوبی بوست- ابوستکے)-

کبوړے (کہ-بو-ړے) اسم- واحد- مذکر- بچه شوی د ګړی شيره- (۱) وړوکے کب- جمع کبوړی-

کبير (کہ-بير) اسم صفت- لوی- بزرګ- زيرکه- مؤنث کبيره- (م- عربی)-

کبيره (کہ-بی-ره) اسم صفت- مؤنث- د کبير مؤنث- وګورئ کبير-

کبيره (کہ-بی-ره) اسم- واحد- مؤنث- (۱) د کاغذ يا څرمنې نه جوړه شوی پيمانه چي پيزار پری برش کولے شی- (۲) د صغيره ضد- سخته (ګناه)- لويه (ګناه)-

کبی (کہ-بی) اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱) خوړ- (۲) تيږ سوړے- د اس نرسوړے- (۳) هغه دانه چي اس ته په خلۀ کښي اچولے شی او اس پری قابو کولے شی-

کبی (کبی) اسم صفت- واحد- مؤنث- د کبے مؤنث- وګورئ کبے-

کبے (کبے) اسم صفت- واحد- مذکر- شابوټے- کب لرونکے- قبے- جمع کبی-

کبيسه (کہ-بی-سه) اسم- واحد- مؤنث- هغه شمسی کال چي يوه ورځ پکښي زياته وی- د ۳۶۶ ورځو کال-

کپ (کپ) اسم- واحد- مذکر- (۱) لړزه- ريباړ- ريباړے- (۲) د روټئ نمړی- (۳) د خبر هغه مقدار چي په عليونو يو ځل پريکړے شی-

کپان (کپان) اسم- واحد- مذکر- (۱) د تلې دړه- دړ- (۲) غټه تله-

کپتان (کپ-تان) اسم- واحد- مذکر- (۱) د لوبغاړو مشر- (۲) د رجمنټ مشر- د سمندری جهاز لوی افسر- (م- انګريزی)-

کپتانی (کپ-تا-نی) اسم- مؤنث- د کپتان عهده-

کپر (کپر) اسم صفت- ژوره زمکه- هغه زمکه چي هواره نه وی- د کنډ سره يو ځای ونيلے شی-

کپر (کہ-پر) اسم- واحد- مذکر- کوپری- کپری- کپړه-

کپرګ (کپ-رګ) اسم- واحد- مذکر- (۱) د سيلاب راوړی خاوره چي زمکه شی- لپه- لبه- (۲) د اَبو په سر يخ کنګل- د اَبو په مخ نازک يخ- (۳) لوړه ژوره- ناهمواره زمکه يا سړک-

کپرمزے (کہ-پر-مزے) اسم- واحد- مذکر- يو قسم مزے-

کپره (کہ-پہ-ره) اسم- واحد- مؤنث- وګورئ کپر- جمع کپری-

کپری (کپری) اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ کپر-

کپړ (کہ-پړ) اسم- (۱) د کور لوښی لرګی- د لوښو په رنګ ځيزونه (۲) د غوبې بوټی-

کپړ (کہ-پړ) اسم- واحد- مذکر- برمدول- سازو- د کمند مضبوطه او اَوږده رسی-

کپړه (کپ-ړه) اسم- واحد- مؤنث- رخت- تان- جامه- (م- هندی)-

کپړه چان (کپ-ړه-چان) اسم- واحد- مذکر- (۱) د چاټولو نری او باريکه ټوټه- (۲) د کپړې (ټوکی) نه چان شوے-

کيری (کي-ری) اسم- واحد- مؤنث- کشتی- پالوانی- پهلوانی-

کپړی (کپ-ړی) اسم- واحد- مؤنث- د زړو کوبی-

ئ" (څی-رل)، ی"(مې-ره-ول)، ی"(پيا-لی)، ے"(تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

کپړے:(کَپ-ړے)اسم- واحد- مذکر- دَ خاورین لوښی هغه ټوکړه چې کار
 ترې اخستے شي- (امغانستان)-
کپسول:(کپ-سول)اسم- واحد/جمع- کیپسول- کالتوسي ګولی- یو قسم دارو-
 (م- انګریزي)-
کپ کپ:(کَپ-کَپ)اسم مرکب- ټکړي ټکړي- نره نره- (کول مصدر)-
کپله:(کَپ-له)اسم- واحد- مؤنث- نوړی- کپه- نمړی- جمع کپلې-
کپن:(کَه-پن)اسم- واحد- مذکر- وګوری: کفن-
کپنی:(کَپ-نی)اسم- واحد- مؤنث- کمپنی- دَ تجارت دَ سوداګرو ټولے-
کپهی:(کَپ-پی)اسم- (۱)جلتی- بې آرامی- بې قراری- (۲)لهٔ بېره شوقه
 لړزېدنه- (۲)بادام- د بادام ونه-
کپوت:(کَپوت)اسم- واحد- مذکر: نالائقه څوئ- ناخلف-
کپورکچری:(کَپور-کچ-ری)اسم- نرکچور- یوه خوشبوداره جړه- زرنباد-
کپوره:(کَه-پو-ره)اسم- واحد- مؤنث- د غو یا چېلی خټه چې څنې خلق ئې
 ډېر پهٔ شوق پخوی او خوری-
کپوکپو:(کَپو-کَه-پو)اسم مرکب- ټپو ټپو- پهٔ مله مله- غټې غټې نمړی
 خوړنه-
کپول:(کَه-پول)مصدر متعدی- پهٔ غلا تښتول-
کپولے:(کَه-پو-ولے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع کپولی- مؤنث
 کپولې- وګوری: کپول-
کپون:(کَه-پون)حاصل مصدر- وګوری: کپول-
کپونکے:(کَه-پون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع کپونکی- مؤنث
 کپونکې- وګوری: کپول-
کپونګ:(کَه-پو-نګ)حاصل مصدر- وګوری: کپول-
کپونه:(کَه-پو-نه)حاصل مصدر- وګوری: کپول-
کپوهٔ:(کَه-پو-وهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه-
 وګوری: کپول-
کپه:(کَه-پهٔ)اسم- واحد- مؤنث: (۱)دَ ګلونو شکری- (۲)دَ مېوې څرخولو
 شکور-
کپه:(کَه-په)اسم- واحد- مؤنث- پکه- د دارو سفوف- جمع کپې-
کپه:(کَه-په)اسم- واحد- مؤنث- (۱)چوټی- (۲)نومړی- نمړی- نوړی-
 (۲)کپړدی- تواره- (۴)ځری- خره- کوټه- دلی-
کپی:(کَه-پی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)یو قسم کپلی- (۲)دَ خناورو
 وربوز- (۲)پېړی-
کپیا:(کَپیا)صفت- (۱)قېمه- ټوټې ټوټې- ریچې ریچې- ذری ذرې-
 (۲)ستړے ستومانه-
کپی چوټی:(کَه-پی-چو-ټی)اسم- (۱)تلهٔ راتلهٔ بندونه- تعلقات خرېدنه-
 خلاصونه- غځونه- ختمونه- بې باکه کونه- (۲)دَ ماشومانو پهٔ حېل مېنځ
 کښې دَ تعلق پرېکړه-

کپی ځ-:(کَه-پی-ځُلے)صفت- واحد- مذکر- (۱)ارت خُلے- (۲)بې زبانه-
 بزدله- جمع کپی ځلی-
کپېدل:(کَه-پې-دَل)مصدر لازم- لهٔ ېختی نه رچېدل- رېپدل- رېږدېدل-
کپېدلے:(کَه-پې-دَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع کپېدلی- مؤنث
 کپېدلې- وګوری: کپېدل-
کپېدن:(کَه-پې-دَن)حاصل مصدر- وګوری: کپېدل-
کپېدنګ:(کَه-پې-دَنګ)حاصل مصدر- وګوری: کپېدل-
کپېدنه:(کَه-پې-دَنه)حاصل مصدر- وګوری: کپېدل-
کپېدونکے:(کَه-پې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع کپېدونکی- مؤنث
 کپېدونکې- وګوری: کپېدل-
کپېدهٔ:(کَه-پې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه-
 وګوری: کپېدل-
کپېر:(کَپېر)اسم- واحد- مذکر- (۱)ناکه- نهنګ- مګرمچ- (۲)غټ کُب-
کت:(کُت)اسم- واحد- مذکر- (۱)یو قسم دارو- (۲)یوه بیماری-
کت:(کَت)اسم- (۱)مینځ- مابین- (۲)اسم الفار- سهین زرنیخ- صمبلخار-
 (۲)کمبله- غالی- ټغر-
کُت:(کُت)اسم- واحد- مذکر- کُتی- قُتی- قتارے- کندوری- پوغل- پوغے-
 غار-
کت:(کَت)اسم- واحد- مذکر- ترخ- تخرګ-
کتاب:(کِتاب)اسم- واحد- مذکر- دَ چاپ شویو او لیکلو شویو پاڼو
 مجموعه- جمع کتابونه- (م- عربی)-
کتابت:(کِتابت)اسم- واحد- مذکر- دَ کتاب دَ لیکلو کار- (م- فارسی)-
کتابچه:(کِتاب-چه)اسم- واحد- مؤنث- وړوکے کتاب- کتاب ګوټے- کاپی-
 د کتاب پهٔ څېر-
کتابخانه:(کِتاب-خانه)اسم- واحد- مؤنث- لائبریری- دَ کتابونو ځائ-
کتابدار:(کِتاب-دار)اسم- واحد- مذکر- کتابدارے- دَ کتابونو محافظ-
 لائبریرین-
کتابداری:(کِتاب-داری)اسم- دَ لائبریرین کار-
کتابدارے:(کِتاب-دارے)اسم- واحد- مذکر- وګوری: کتابدار-
کتاب فروش:(کِتاب-فروش)اسم- واحد- مذکر- کتابونه خرڅونکے-
 (م- فارسی)-
کتاب ګوټے:(کِتاب-ګوټے)اسم تصغیر- وړوکے کتاب-
کتابه:(کِتابه)اسم- واحد- مؤنث- پهٔ غټ قلم پهٔ ټوکره(ټوکر)لیکلے شوے
 خط-
کتابی:(کِتابی)اسم صفت- د کتاب سره متعلق-
کتاره:(کَه-تا-ره)تابع مهمل- دا لفظ دَ قیصې سره یو ځائې ونیلے شی- لکه
 قیصه کتاره- قصه- لویه جېره-
کتاری:(کَه-تا-ری)اسم- جمدر- جوبر- جوندر- نباتاتی نوم کنول ویولس

www pukhto net

اروینسس (CONVOLVULUS ARVENSIS)-

کتان:(کہ-تان)اسم- واحد- مذکر- (۱)یو قسم وریښمین ټوکے چې د سپوږمۍ د رڼا سره ټوټې ټوټې چوی- (۲)السي چې تېل ترې ایستلے شي (۲)یو قسم بوټے چې د هغې پاڼې په اوبو کښې خوشتولے شي او د دغې مادې نه وریښمینه کپړه جوړولے شي-

کتاني:(کہ-تا-ني)اسم- د کتان سره متعلق- لهٔ کتانه جوړ-

کتب خانه:(کُ-تب-خا-نه)اسم- واحد- مؤنث- دٔ کتابونو کمره- لائبریری- کتابخانه-

کتبه:(کت-به)اسم- واحد- مونث- په کاڼي لیکلے شوے عبارت چې د شناخت په غرض په قبرونو یا مکانونو لګولے شي-

کتر ل:(کت-ر ل)اسم- واحد- مذکر- یو کلالي لوښے-

کترورخه:(کہ-تر-ور-خه)اسم- اُربشه-

کتری:(کت-ری)اسم صفت- (۱)زوروری- (۲)نفرت کونکے- کترے- (۲)سخت-

کتری باران:(کت-ری-با-ران)اسم- د زنانو یو کالے-

کترے:(کت-رے)اسم تصغیر- واحد- مذکر- کُوکرے- دٔ سپي بچے- کوترے-

کترینګ:(کت-ری-نګ)اسم صفت- واحد- مذکر- هوښیار- زیرک- چالاک- سپین سترګې- بې اُدبه-

کترے:(کت- رے)اسم صفت- هغه سړے چې د نورو خلقو نه نفرت کوي- کتری-

کتغ:(کہ-تغ)اسم- واحد- مذکر- سالن- ایکولے- نګولے- پوروښے- لاړن-

کتغلے:(کت-غه-لے)اسم- واحد- مذکر- هغه ځل یا لمسے چې دٔ غوایانو په شا په ژمي کښې اچولے شي- جمع کتغلي-

کتک:(کہ-تک)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کاتک- دٔ هندي کال اوومه میاشت-

کتک:(کہ-تک)اسم- واحد- مذکر- غنم کړه- پېر غنم پیدا کونکې زمکه- هغه زمکه چې غنم پکښې ښه کیږي-

کتکانے:(کُت-کا-نے)اسم- واحد- مذکر- سنګرېزه- هغه ورو کے خړ رنګے کاڼے چې اکثر په شګو او مقبرو کښې وي-

کت کبړی:(کت-کہ-بہ-ړی)اسم- واحد- مؤنث- دٔ ماشانو یوه لوبه-

کت کت:(کت-کَت)اسم صوت- دٔ چرګې آواز- کټ کټ-

کتکے:(کت-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ اوښت- دٔ څاروو لرے- جمع کتکي

کتکي:(کت-کي)اسم- مؤنث- په تېزه خنداء پوله پسې خنداء-

کتل:(کہ-تل)مصدر- (۱)دٔ لیدو د پاره سترګې اړول- کسل- کورل- (۲)انتظار کول- صبر کول- (۲)لټول- (۴)مطالعه کول-

کتلمه:(کت-لہ-مه)اسم- واحد- مؤنث- قتلمه- د مېده اوړو نرۍ غوړه روټۍ-

کتله:(کُت-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دٔ غرهٔ کمر- پاڼ-

کتلے:(کہ-تہ-لے)اسم معمول- واحد- مذکر- وګورئ کتل-

کتلے:(کُت-لے)اسم- واحد- مذکر- شمشتې- کشب- شکرتانے- کاتلے- کپشو- کپشوهٔ-

کتمخے:(کت-مه-خے)اسم- واحد- مذکر- دٔ میزری پاڼو نه جوړه شوې کلکه ټوټه چې دٔ کټې په مخ ګنډلے شي-

کتمیره:(کت-مي-ره)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم نقش چې په کمبله په سره ځنې (سوتلې) کولے شي-

کت مینه:(کت-مي-نه)اسم- واحد- مؤنث- نخره- جمع کت میني-

کتن:(کہ-تن)حاصل مصدر- وګورئ کتل-

کتنځے:(کہ-تن-ځے)اسم- واحد- مذکر- دٔ کتو ځاې- دٔ کتلو ځاې- جمع کتنځي- (افغانستان)-

کتنویه:(کہ-تن-نو-یه)اسم صفت- کتونکے- د کتل مصدر اسم صفت-

کتنګ:(کہ-تنګ)حاصل مصدر- وګورئ کتل-

کتنه:(کہ-تہ-نه)حاصل مصدر- وګورئ کتل-

کتو:(کہ-تو)اسم- واحد- مذکر- یو قسم مرغۍ- جمع کتوان-

کتوبے:(کہ-تو-بے)اسم- واحد- مذکر- ریشتلے- دٔ لوښي په وېخ کښې پاتې ذیرے- جمع کتوبي-

کتولے:(کہ-تو-لے)اسم- واحد- مذکر- یوه لویه ټوکری چې خلق پکښې مېوې راوړي- د مېوو ټوکري-

کتون:(کہ-تون)اسم- واحد- مذکر- انتظار- دٔ کتل مصدر نه اسم- وګورئ کتل-

کتونکے:(کہ-تون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع کتونکي- مؤنث کتونکې- وګورئ کتل-

کته:(کہ-ته)اسم- واحد- مؤنث- دٔ کپړې یا بوج وغیره نه جوړ نرم ځل چې دٔ څناورو په شا دٔ بار راوړلو په رخت اچولے شي- اسباب-

کته:(کہ-ته)اسم صفت- مؤنث- د بالا ضد- ښکته- لاندې-

کته پته:(کہ-ته-په-ته)اسم- واحد- مؤنث- کړته پړته- فضول خبره- جمع کتې پتې-

کتیر:(کہ-تیر)اسم- واحد- مذکر- دٔ پلوسي کنډ- دٔ پلوسي چېر-

کتیره:(کہ-تي-ره)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم سلیښدار دارو- نباتاتي نوم سټرکولیا یورنس (STERCULIA URENS)-

کتېدل:(کہ-تې-دل)مصدر لازم- (۱)دٔ چرګې دٔ خپلو بچو په یو مخصوص اواز سره راغنډول- (۲)فضول خبرې کول- غلې غلې او پرله پسې خندېدل-

کتېدن:(کہ-تې-دن)حاصل مصدر- وګورئ کتېدل-

کتېدنه:(کہ-تې-دہ-نه)حاصل مصدر- وګورئ کتېدل-

کتېدونکے:(کہ-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ کتېدل-

کتېدهٔ:(کہ-تې-دهٔ)حاصل مصدر او دٔ ماضي استمراري دٔ واحد غائب صیغه- وګورئ کتېدل-

کتې:(کُ-تې)اسم صفت- واحد جمع- مؤنث- کُتے- کُت-

کتے:(کہ-تے)اسم- واحد- مذکر- د پیو دٔ پیمانه کولو لرګے-

کټ:(کَټ)اسم- واحد- مذکر- دٔ کملاستو دٔ پاره دٔ څلورو بازوګانو څلورو

ئ (ئـي-رل)، ي(هي-وه-ول)، ئ(پیا-لي)، ے(تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

پښو او بوټ نه بوټلے شوے- جمع کټونه-

کټ:(کَټ)اسم صوت- (۱)د چرګ د شړلو آواز- (۲)اسم- واحد- مذکر- تورے- راشه- رشه-

کټ:(کَټ)اسم- واحد- مذکر- یو قسم رنګ چې له پوستکو جوړولے شی او چمیاران یې څرمنو ته ورکوی- جمع کټونه-

کټ (کټ)لاحقه چې همیشه د غټ سره راځی- لکه غټ کټ-

کټا:(که-ټا)اسم- یو قسم خندا-

کټا:(که-ټا)اسم صفت- (۱)غټ پهلوان- (۲)هغه سړے چې سر یې ځرنبلے وی- جمع کټاګان-

کټاب:(که-ټاب)اسم- واحد- مذکر- کټاؤ- د ګنهون یو قسم- (افغانستان)-

کټار:(که-ټار)اسم- واحد- مذکر- (۱)کټارې- وګورئ: کټاره ۱- (۲)وګورئ: کټاره ۲-

کټار:(که-ټار)اسم- واحد- مذکر- چنړو- جنډرې- چیټی- چمی- د ماشومانو جیبکو یوه لوبه-

کټار:(که-ټار)اسم صفت- (۱)لرخبدلے- اوښتے- مرتد- (۲)ضدی- سخت زړے- سرکښه- مؤنث کټاره-

کټاره:(که-ټا-ره)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه غوا چې د لوشلو په وخت کښې دویم سړے خاشه نه پرېږدی- جمع کټارې-

کټاره:(که-ټا-ره)اسم- واحد- مؤنث- د توري په شان یو قسم وړه اسلحه- کټار- کټارې-

کټاره:(که-ټا-ره)اسم- واحد- مؤنث- ځمکله- چالکی- الحی- اخی- چحه- جمع کټارې-

کټارېدل:(که-ټا-رې-دل)مصدر لازم- سرکش کېدل- بدعمله کېدل- بې لارې کېدل-

کټارېدن:(که-ټا-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ: کټارېدل-

کټارېدنه:(که-ټا-رې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ: کټارېدل-

کټارېدونکے:(که-ټا-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ: کټارېدل-

کټارېده:(که-ټا-رې-ده)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ: کټارېدل-

کټارې:(که-ټا-رې)اسم- واحد- مؤنث- خنجر- چاړه- تېره چاړه- وګورئ: کټاره ۲-

کټالی:(که-ټا-لی)اسم- واحد- مؤنث- هغه خاورینه کټوی چې زرګران پکښې زر ویلی کوی- کوټالی- کوټولی-

کټاؤ:(که-ټاؤ)اسم- واحد- مذکر- د ګنهون یو قسم- کټاب-

کټبان:(کټ-بان)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه سړے چې د کټ بوټلو کار کوی- کټ وان-

کټ بوزے:(کټ-بو-زے)اسم- واحد- مذکر- (۱)پوزبند- کټ پوز- (۲)پرستن- تولاتی- (افغانستان)-

کټبیل:(کټ-بیل)اسم- واحد- مذکر- جزء- حصه-

کټ پړے:(کټ-پړے)اسم- واحد- مذکر- هغه پړے چې د کټ د لنګې او د پیاړمې کار ترې اخستے شی-

کټپش:(کټ-پش)اسم- واحد- مذکر- کټه پیش- لوړکے- تینکړی-

کټپوز:(کټ-پوز)اسم- واحد- مذکر- (۱)پوزبند- کټبوزے- د ځلې هغه کوړے چې د خساور اوربوز پرې د حوراك نه د منع کولو د پاره تړلے شی- (۲)تولاتی- پرستن- (افغانستان)-

کټرکے:(کټ-ړ-کے)اسم تصغیر- واحد- مذکر- کوټرکے- کوچے- د خرۀ بچے- جمع کټرکی-

کټسه:(کټ-سه)اسم- واحد- مؤنث- کُږ-

کټ کټ:(کټ-کټ)اسم صوت- د خندا کولو آواز- په زوره خندا- په کړس کړس خندا-

کټ کټکے:(کټ-کټ-کے)اسم- واحد- مذکر- کټ پوزے- د کور مال اسباب- جمع کټ کټکی-

کټ کوټ:(کټ-کوټ)اسم- کټ کټانی- کمے زیاتے- یو څیز نه څۀ کمونه زیاتونه- په یو لیکلی کاغذ کښې تصیح کونه-

کټ کوټ کېدل:(کټ-کوټ-کې-دل)محاوره- (۱)خوشحالېدل- (۲)حیرانېدل-

کټ کول:(کټ-کول)مصدر- پرېکول- بندول- قطع کول- (۲)مخه راګرځول-

کټکی:(کټ-کی)اسم- واحد- مؤنث- په تېزه خندا- خرتا- د خندلو آواز-

کټ کېدل:(کټ-کې-دل)مصدر- پرېکېدل- بندېدل- پرېکړے کېدل-

کټکے:(کټ-کے)اسم- واحد- مذکر- سټول-

کټکے:(کټ-کے)اسم تصغیر- واحد- مذکر- وړوکے کټ- کټکے- جمع کټکی-

کټکے:(کټ-کے)اسم- واحد- مذکر- خربق- یو بوټے چې په غرونو کښې کېږی-

کټکے:(کټ-کے)اسم تصغیر- وګورئ: کټکے-

کټکے:(کټ-کے)اسم- واحد- مذکر- وړوې پاڼې او لنډ پنډر لرونکے د پیاز په شان بوټے چې سوربخن ګلونه لری او خوند یې تریخ وی او عام طور سره په غرونو کښې زرغنېږی-

کټل:(الـ-ټل)اسم- (۱)توکل- (۲)د یو مېوه دار بوټی نوم-

کټل:(کڼ-ټل)مصدر- د چرګانو شړل- شې کول-

کټماله:(کټ-ما-له)اسم- واحد- مؤنث- د بڅو د غاړې یو پسول- جمع کټمالې-

کټ مټ:(کټ-مټ)متعلق فعل- هو به هو- هم دغه شان- بعینه-

کټمل:(کټ-مل)اسم- واحد جمع- مذکر- (۱)هغه اُسپنه چې قصاب پرې چاړۀ تېروی- (۲)سکې- سکوره-

کټمیر:(کټ-میر)اسم- واحد- مذکر- د قبائیلو یو دستور چې د اختر ننماځلو د پاره په غر باندې اور بلوی-

کټمیره:کټ-مې-ره)اسم- واحد- مؤنث- غټه چاړۀ- غټ چاقو-

زبر"(ح-ـمې-ره)، زورکے"(شل)، پېش"(تو-کا-ره)، زیر (ک-باب)، جزم"(شکوې)، ه (ر-ږه)، "ۀ (پو-ہې-دۀ)،

www.pukhto.net

کتمیرے:(کت-مې-رے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دٔ کونترې هغه بچے چې بازې اٴروِل ئې زده نۀ وي- د کوترې بچے چې وزرې ئې لا نۀ وي کړې- (۲)فاخته- قمری-

کتهمیرے:(که-ته-مې-رے)اسم صفت- کته میرے- بې مینې- خبره نۀ منونکے-

کتهنی:(کت-هنی)اسم صفت- واحد جمع- مؤنث- (۱)دلال کرهٔ- دلال ماره- مکاره- (۲)پهٔ دوکه یا چل ول جینکی د کوروتو نه ایستونکې ښځه-

کتهو:(که-تهو)اسم- واحد- مذکر- غټه چاټی- مټکا- جمع کتهوان-

کتهوټ:(کت-هوټ)اسم صفت- کهوړ-

کتوټکے:(که-توټ-کے)اسم- واحد- مذکر- پهٔ کوروتو کښې دٔ کهړې نه جوړه شوې ځانګو-

کتهوتې:(که-تهو-تې)اسم تصغیر- کتهوتی- وړوکې کتهوی- د ماشومانو د لوبو وړه کتهوی-

کتهوتی:(که-تهو-تی)اسم تصغیر- کتهوتی- کتهوتې- وړه د خاورو کتهوی-

کتهوبے:(که-تهو-بے)اسم تصغیر- واحد- مذکر- وړوکے ببے- کچوبے دبلے- بیچونے دبلے- پولکی-

کتهور:(که-تهور)اسم صفت- دٔ بخې تابع- د بخې مرید- لهٔ ښځې ویربدونکے-

کتهورکے:(که-تهور-کے)اسم تصغیر- واحد- مذکر- وګورئ کتهورے-

کتهوروټے:(که-تهو-رو-ټے)اسم تصغیر- کتهورکے- سینګرے- وړوکے کتهورے- وړوکے کتهولے- د ابو ښځلو وړوکے لوښے-

کتهورے:(که-تهو-رے)اسم- واحد- مذکر- جرمنے- دٔ اُبو ښځلو ملرې لوښے- کتهوروټے- جمع کتهورې-

کتهوبے:(که-تهو-بے)اسم- واحد- مذکر- دٔ خټو دٔ نغرې پښه-

کتهول:(که-ته-ول)مصدر- (۱)حرکت ورکول- خوځول- (۲)راپاړول- راتوړول-

کتهوله:(که-تهو-له)اسم- واحد- مؤنث- پرلی- چوبان-

کتهولے:(که-ته-ؤ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع کتهولي- مؤنث کتهولې- وګورئ کتهول-

کتهون:(که-ته-ون)حاصل مصدر- وګورئ کتهول-

کتهونکے:(که-ته-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ کتهول-

کتهونګ:(که-ته-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ کتهول-

کتهونه:(که-ته-ؤ-نه)حاصل مصدر- وګورئ کتهول-

کتهوه:(کت-وه)اسم- واحد- مؤنث- ترقره- د پټکی ښفه شمله-

کتهوه:(که-تهـ-وه)اسم- واحد- مؤنث- د خاورو کتهوی- کتهوی- جمع کتهوی-

کتهوهٔ:(که-ته-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ کتهول-

کتهوی:(کت-وی)اسم- واحد جمع- مؤنث- لهٔ خاورو جوړ دٔ پخلی لوښے- کتهوه-

کتهوی خټ:(کت-وی-خټ)اسم صفت- تالی خټ- هغه څوک چې کتهوی ختې- د بل خوراک ته ناست-

کته:(که-ته)اسم- واحد- مذکر- یو ښکاري مارغهٔ- باز- کته باز- جره-

کهار:(که-ته-هار)اسم صوت- د زرکو اوازونه-

کته باز:(که-ته-باز)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کته-

کته بونګ:(که-ته-بونګ)اسم- واحد- مذکر- باتیا چیندخ- کابلے چیندخ- غټ چیندخ-

کته پور:(که-ته-پور)اسم- واحد- مذکر- لوې برج-

کته پیش:(که-ته-پیش)اسم- واحد- مذکر- (۱)خنګلی بلا- بلا- (۲)تینګړی- تریکلی- لوړکے- کته پور- کتهپیش- کرپش- دٔ مسواکې ګټې پهٔ ذریعه څوک پهٔ تندی وهنه-

کته چرګ:(که-ته-چرګ)اسم صفت- واحد- مذکر- غټ او مضبوط چرګ-

کته چرګه:(کُ-ته-چر-ګه)اسم صفت- کرکه چرګه- هغه چرګه چې اګې ئې بس کړې وي-

کته سونکے:(که-ته-سون-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- غټه پوزه لرونکے- جمع کته سونکي-

کته ګنته:(کُ-ته-ګُ-نه)اسم- واحد- مؤنث- غټه ګنته- دٔ لاس یا پښې تر ټولو پیړه خو لنډه ګوته-

کته کوری:(که-ته-کو-ری)اسم- واحد- مؤنث- کمته کوری- (۱)پله- دسته- طبقه- (۲)اوبش- هغه زیش چې تصنیف کښې استعمالیږي-

کته لګ:(که-ته-لګ)اسم- خوږمدی- کور-

کته مخ:(که-ته-مخ)اسم صفت- واحد- مذکر- غټ مخ-

کته میر:(که-ته-میر)اسم صفت- واحد- مذکر- بې محبته- بل سره تعلق نۀ ساتونکے- نامهربان- کته میرے-

کته میرے:(که-ته-مې-رے)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ کته میر-

کتیر:(که-تیر)اسم- واحد- مذکر- بلندره- لشر-

کتیره:(که-تی-ره)اسم- ترکیب- مرکب- ساتوال- ساطور- ساتول-

کتیک:(که-تیک)اسم صفت- واحد- مذکر- دٔ خرمنې رنګ کونکے- دباغ- کتیکے- جمع کتیکان-

کتې:(کمتې)اسم صوت- د کتې یا کتې دٔ شړلو آواز-

کتیری:(که-تې-ری)اسم- واحد- جمع- مؤنث- لرګاره- مرګاره- کرے- کرهے-

کتیل:(که-تې-یل)مصدر- دٔ قیچی پهٔ ذریعه دٔ ونې نرې څانګې یا واښهٔ پرېکول-

کتیلے:(که-تې-یـ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع کتیلي- مؤنث کتیلې- وګورئ کتیل-

کتین:(که-تې-ین)حاصل مصدر- وګورئ کتیل-

کتینګ:(که-تې-ینګ)حاصل مصدر- وګورئ کتیل-

کتینه:(که-تې-ینه)حاصل مصدر- وګورئ کتیل-

کتیونکے:(که-تې-یون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع کتیونکي- مؤنث کتیونکې- وګورئ کتیل-

کتی:(که-تی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کتوی- کتوه- (۲)انړی- (۳)د کتی

مؤنث- د مسې سخیه بچے-

کټے:(که-ټے)اسم- واحد- مذکر- (۱)د مېښې بچے- (۲)هغه وخ واښهٔ چې دَ اوښانو دَ پاره ذخیره کولے شي- (۳)د رباب غټ تار- جمع کټی/کټیان-

کټے:(که-ټے)اسم- واحد- مذکر- کوډی- پیمانه- کاسه- پلی- هغه لوښے چې پۀ پرې پیمانه کولے شي- جمع کټی-

کټے:(که-ټے)اسم- واحد- مذکر- دَ چړو بوس- جمع کټی-

کټے:(که-ټے)اسم صفت- واحد- مذکر- غټ- مضبوط- جمع کټی-

کثافت:(که-ثا-فت)اسم- واحد- مذکر- (۱)مضبوط والے- غټوالے- (۲)میل- گندگی- چټلی- ناپاکی-

کثرت:(کث-رت)اسم- واحد- مذکر- زیاتوالے- ډېروالے-

کثیر:(ک-ثیر)اسم صفت- ډېر- ډېر زیات-

کثیف:(ک-ثیف)اسم صفت- گنده- ناپاک- کثافت لرونکے-

کثیفول:(که-ثی-فه-ول)مصدر- (۱)پنډول- ډېرول- (۲)گنډول- (۳)ټینگول- (۴)مرداروول- (۵)خیرنول-

کثیفېدل:(که-ثي-فې-دل)مصدر- (۱)پنډېدل- ډېرېدل- (۲)خیرنېدل- (۳)گنډېدل- (۴)ټینگېدل- (۵)مردارېدل-

کج:(کج)اسم صفت- واحد- مذکر- کوږ ووږ- خم- دَ نیغ ضد- (م- فارسي)-

کجات:(ک-جات)اسم صفت- واحد- مذکر- بداصل- کمینه- کجال- (م- فارسي)-

کجال:(ک-جال)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ کجات- (م- فارسي)-

کجاوه:(که-جا-وه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پالکي- ډولکي- (۲)دَ مېوې ورلو لویه بوره چې لۀ مېزرو جوړه وي-

کجاوي:(ک-جا-وي)اسم- جمع- بې مطلبه خبرې- فضول خبرې-

کجاني:(ک-جا-ني)اسم صفت- واحد- مذکر/مؤنث- بکواسي- اوټې بوټې ویونکے- فضول خبرې کونکے-

کج ببرے:(کج-بب-رے)اسم- واحد- مذکر- دَ زخم دَ پاره پکارونکے یو قسم بوټے- پرهرپاڼے- گزک پاڼه- زخم بوټے- زخم حیات- نباتاتي نوم سکس فریګا لیګولېټا (SAXIFRAGA LIGULATA)-

کج خلقي:(کج-خل-قي)اسم- واحد- مؤنث- بداخلاقي- بدمزاجي- دَ خوئ سختي-

کج رفتار:(کج-رف-تار)صفت- وګورئ کجرو-

کجرو:(کج-رو)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)پۀ کوږه لاره تلونکے- کوږ ووږ تلونکے- (۲)ظالم- ناانصاف-

کجک:(که-جک)اسم- واحد جمع- مذکر- (۱)دَ بڅو پۀ تندی کاږۀ واږۀ وېښتۀ (۲)دَ اېلو دَ لکی وېښتۀ (۳)دَ توپک سپے- (۴)پسته سادرنگ- (۵)منحنی لرگے چې د ژرندې پل پکښې گرځي-

کجکل:(کج-کل)اسم صفت- واحد- مذکر- فالج زده- هغه سړے چې د گوړن لۀ مرضه کوږ وږ وي- گوزنی- کجے-

کجکلاه:(کج-ک-لاه)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)کوږ دستار پۀ سر لرونکے- کوږه کوله پۀ سر تړونکے- خان ښیونکے- (۲)بادشاه- معشوق-

کجکول:(کج-کول)اسم- واحد- مذکر- تور رنگ لرونکے دَ فقیرانو دَ چړ غښتو لوښے- دَ خېر غښتو لوښے- کچکول- کشکول- کجکولونه-

کجکے:(که-جه-کے)اسم- واحد- مذکر- تول کجکے- یوه وړه ښائسته مرغۍ- جمع کجکي-

کجکے:(کج-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ژامه- ژامنه- کرغښے- دَ ژامنې وروستے هډوکے- (۲)وروکے حوض- سروبے- وړه چینه-

کج گل:(کج-گل)اسم- واحد- مذکر- دَ تور رنگ لرونکے یو گل-

کجل:(که-جل)اسم- واحد/جمع- مذکر- کاجل- (۱)رانجۀ چې پۀ کڅو کښې کړے شي او سترگې پرې تورولے شي- (۲)لوگے-

کجلوله:(کج-لو-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پېش قوضه- خنجر- (۲)چاړۀ- دَ غوښې پرې کولو چاړۀ-

کج لیچ:(کج-لیچ)اسم صفت- کوږ ووږ- کنده- ژوره لاره- کږلیچ-

کجلي سترگې:(که-جه-لي-ستر-گې)اسم صفت- جمع- مؤنث- مستې سکاڼې سترگې- تورې سترگې- رانجۀ کړې سترگې-

کج مله:(کج-ما-له)اسم- واحد- مؤنث- غابنور- جمع کجمالي-

کجن:(که-جن)اسم- واحد- مذکر- برستن- لحاف- نیالی- نالی- تلتک-

کجور:(که-جور)اسم- واحد- مذکر- (۱)خجور- خجوره- کجوره- (۲)دَ جوارو یو قسم-

کجوره:(که-جو-ره)اسم- واحد- مؤنث- یوه مشهوره ونه او دَ هغې مېوه- جمع کجورې- نباتاتي نوم فینکس ډېکټائلیفرا اېل (PHOENIX DACTYLIFERA L)- (م- هندي)-

کجه:(که-جه)اسم صفت- واحد- مذکر مؤنث- د پینځو کالو غوا یا غوئے-

کجي:(که-جي)اسم- واحد- مؤنث- کاجي- (۱)نامردي- پۀ لوبه کښې تگي- (۲)چمبوزي- خنفوزي- (۳)کوږوالے- ناهمواري-

کجیر:(که-جیر)اسم- واحد- مذکر- (۱)یو غټ غرنیز مارغۀ- (۲)خپلی- برغڼے- کجیران- یو قسم غټه دانه چې د غاړې یا ترخ لاندې راخېژي- (۳)صفت- غټ او ښائسته سړے- جمع کجیران-

کجیران:(که-جي-ران)اسم- وګورئ د کجیر دوېمه معنی-

کجیرتوب:(که-جیر-توب)اسم- واحد- مذکر- ښادمنې- بخره منې- ښاغلتیا- ښه مرغي-

کجیم:(که-جیم)اسم- واحد- مذکر- دَ آس زغره-

کجی:(که-جي)اسم صفت- واحد جمع- مونث- دَ کجی مؤنث- وګورئ کجے-

کجے:(که-جے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)هغه سړے چې پۀ پښو کښې ې کوږوالے وي- کوږ کینږ- گډ- (۲)یو قسم د شیراز کونتره- (۳)وګورئ کجکل-

کخر:(ک-خر)اسم- واحد- مذکر- (۱)لحاف- تولاني- تلنی- تولیا- تلتک-

زبر "(خ-بذ-ره)، زورکے "(شل)، پېش "(ثو-کا-ره)، زېر "(ک-تاب)، جزم "(شکون)، ه "(ز-ړه)، ۀ "(ږو-سې-دۀ)

www pukhto net

(۲)په نیم سر یک- نیم یک جمع کخران-

کخلي:(که-خه-لي)اسم- جمع- مؤنث- خس و خشاک- بې کاره څیزونه- خزلي- خخلي-

کخن:(که-خن)اسم- واحد- مذکر- شیرک- تلتک- برستنه- برستن- نالی- نیالی- کنخر-

کچ:(کچ)اسم صفت- واحد- مذکر- کچه- ووړکے- چیت- چې غټ پټ نهٔ وی- کچونے-

کچ:(کچ)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ سیند پهٔ غاړه هواره دَ کروندې زمکه- کڅ- کڅے- (۲)پهٔ پټی کښې هغه ځایٔ چې سخت وی او زرغُنه بهٔ نهٔ کوی-

کچ:(کچ)اسم- واحد- مذکر- وریښمین تار چې دَ سنهو نه جوړولے شی-

کچ:(کچ)اسم- واحد- مذکر- ناپ- پیمانش- اندازه- میچ- مقدار- (کول/کېدل مصدرونه)-

کچ:(کچ)اسم صفت- پمن- کچن- بدشکله- دَ خارش مریض-

کچ:(کچ)اسم صفت- عیب- نقص- خامی-

کچ:(کچ)اسم- جمع- مذکر- دَ شملو نه وېستلے شوی غوړ- کچه غوړی-

کچاړه:(که-چا-ړه)اسم صفت- واحد- مذکر- کوړمه- جمع کچاړې-

کچ اغزے:(کچ-اغ-زے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم ازغی لرونکے بوټے-

کچالو:(که-چا-لو)اسم- واحد- مذکر- دَ الو دَ خاندان یوه سبزی- نباتاتی نوم ارم کولوکېشیا (ARUM COLOCASIA)-

کچبیز:(کچ-بیز)اسم- واحد- مذکر- تامبوزے- تمبوزک- توبوزک-

کچر:(که-چر)اسم- واحد/جمع- مذکر- قچر- خچره- دَ آسپې او خر پهٔ جنسی توکه له یو ځایٔ کېدو پهٔ وجه پېدا شوے بچے- (۲)صفت- بدکاره- بدعمله-

کچرتوب:(که-چر-توب)اسم- کچری- دَ کچر جوړېدو حالت-

کچره:(کچ-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وګورئ کچرې ۲- (۲)غاتره- استره- هغه ذره چې دَ موټر یا موټرسائیکل پهٔ پلګ کښې ونښلی- جمع کچرې-

کچره:(که-چه-ره)اسم صفت- واحد- مؤنث- دَ کچر مؤنث- وګورئ کچر-

کچری:(که-چه-ری)اسم- مؤنث- (۱)بدعملی- بدکاری- شرارت- (۲)ټوقه- مسخره-

کچهری:(که-چه-ری)اسم- واحد/جمع- مؤنث- عدالت چې دَ مقدمو فیصلې پکښې کیږی- (م- هندی کچهری)-

کچری:(کچ-ری)اسم- واحد/جمع- مؤنث- کچه خټکے یا ایندوانه- کچره-

کچېړه:(که-چې-ړه)اسم- دَ مستی پهٔ حالت کښې دَ زړک یا زرکې آواز- جمع کچېړی-

کچ سترکے:(کچ-ستر-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- دَ ووړو سترګو خاوند-

کچک:(که-چک)اسم- واحد/جمع- مذکر- کجک- پهٔ تندی کاږهٔ واږهٔ ویښتهٔ-

کچکاسه:(کچ-کا-سه)اسم- واحد- مؤنث- هغه څمڅی چې مایع پرې دَ یو لوښی نه بل لوښی ته پهٔ اندازه اچولے شی-

کچکاله:(کچ-کا-له)اسم- واحد- مؤنث- مات شوے لوئ خاورین لوښے-

کچ کچ:(کچ-کچ)اسم صوت- تو تو- دَ سپی دَ راغښتلو آواز-

کچ کچول:(کچ-که-چول)اسم- د کور دَ استعمال لوښی-

کچکول:(کچ-کول)اسم- واحد- مذکر- کشکول- وګورئ کجکول-

کچکولک:(کچ-کو-لک)اسم- واحد- مذکر- دَ بادامو، پستې وغېره پوستکے- کچکوله-

کچکوله:(کچ-کو-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ کچکولک-

کچګر:(کچ-ګر)اسم صفت- واحد- مذکر- اندازه کونکے- ناپ کونکے- کچ کونکے- مؤنث کچګره- جمع کچګران-

کچل:(ک-چل)اسم صفت- واحد- مذکر- کچے- دَ کمو ووړو ویښتو لرونکے- کوړ ویښے- کچے- مؤنث کچله- جمع کچلې-

کچلمه:(کچ-له-مه)اسم- واحد- مؤنث- خولخوږی- تشلمه- ریشلمه- دَ اورو یو قسم بیماری چې دَ خولې نه پکښې بدبوئی ځی- جمع کچلمې-

کچلین:(کچ-لین)اسم- واحد- مذکر- ارمغان- تحفه- سوغات-

کچماچ:(کچ-ماچ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کچماچو-

کچماچو:(کچ-ما-چو)اسم- واحد- مذکر- یو قسم سبزی- یو قسم ساګ- کرماچو- کاچ ماچ- نباتاتی نوم سولېنم انډیکم (SOLANUM INDICUM)-

کچ میچ:(کچ-میچ)اسم- واحد- مذکر- کچ کونه- ناپ تول- اندازه کونه- دَ زمکې کچ کونه-

کچنار:(کچ-نار)اسم- واحد- مذکر- کچنال- کولیاړ- یوه ونه او دَ هغې دَ غوټو نوم چې دَ پخولو پهٔ کار راځی- نباتاتی نوم سوهینیا ویری ګاټا (SOUHINIA VARIEGATA)-

کچنال:(کچ-نال)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کچنار-

کچندے:(که-چن-دے)اسم- واحد- مذکر- بچے- ووړکے- جمع کچندی-

کچندے:(ک-چن-دے)اسم صفت- بې وخته- بې ټانګه- نیمه خوا- نیمګړے-

کچندے مرغے:(که-چن-دے-مر-غے)اسم- واحد- مذکر- یوه وړه شان مرغۍ چې دَ دیوال پهٔ سورو کښې وسیږی-

کچنوټے:(کچ-نو-ټے)اسم صفت- واحد- مذکر- ماشوم- ووړکے- کچنے- جمع کچنوټی-

کچنه ګټه:(کچ-نه-ګټه)اسم- واحد- مؤنث- خچه ګټه- پلوی- دَ لاس یا پښو پهٔ ګټو کښې دَ ټولو نه وړه ګټه- جمع کچنې ګټې-

کچنی:(کچ-نی)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)کچېدونکې- (۲)بدکاره ښځه- کاسیره- فحاشه ښځه- لولی- کنجری- (م- هندی)-

کچنے:(کچ-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ کچنوټے- جمع کچې/کچنیان-

کچوالے:(کچ-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- (۱)میچ- اندازه- اندازه کونه- (۲)دَ زمکې سختوالے-

کچوټ:(که-چوټ)اسم صفت- واحد- مذکر- شوم- کنجوس- بخیل-

پست فطرت۔ ممسک۔

کچوتی:(کہ-چو-تي)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)ناکجانتوالی۔ (۲)کمجوسی۔ بخیلی۔ شومتیا۔

کچوتے:(کہ-چو-تے)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ ملشوم۔ وروکے۔ جمع کچوتي۔ مؤنث کچوتی۔

کچور:(کہ-چور)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ کولمہ۔ کولمہ توی۔

کچوره:(کہ-چو-ره)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ کځوړه۔ جمع کچوري۔

کچوری:(کہ-چو-ری)اسم۔ واحد جمع۔ مؤنث۔ پوتي۔ پوری۔ حلوا پوری۔ روغنی۔ یو قسم پستہ روغنی روټی۔

کچوکے:(کہ-چو-کے)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ کچوکانے۔ د وادۀ زلمے۔ ودېرن۔ ودکیدے۔ شاروله۔ شاوف۔ روم۔

کچول:(کہ-چہ-ول)مصدر۔ پېمانش کول۔ اندازه کول۔ کچ کول۔

کچول:(کہ-چول)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ چیټ شوے لوښے۔ کروپ لوښے۔ چیټ پیت لوښے۔

کچوله:(کہ-چو-له)اسم صفت۔ مؤنث۔ کچولا۔ کچولی۔ لیشتینکہ۔ چغره۔ سپین سترګي۔ بې لحاظه۔ جمع کچولې۔

کچوله:(کہ-چو-له)اسم۔ مؤنث۔ یو قسم ونہ او د هغې تخم چې بعضو بیمارو کښې بکارولے شي۔ (افغانستان)۔

کچونه:(کہ-چہ-و-نه)حاصل مصدر۔ وګورئ کچول۔

کچونے:(کہ-چو-نے)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ کوچنے۔ وروکے۔ ملشوم۔ جمع کچوني۔ مؤنث کچوسی۔

کچه:(کہ-چه)اسم صفت۔ (۱)د پوخ ضد۔ هغه شے چې پوخ شوے نۀ وي۔ (۲)کمینه۔ ناکس۔ بداصل۔ (۳)شرمنده۔ (۴)بدل۔ (۵)بېکاره۔ ناقص۔ چې اصل نۀ وي۔

کچه:(کہ-چه)اسم صوت۔ کچې۔ د بزې د شړلو اواز۔ اچه۔

کچه:(کہ-چه)اسم صفت۔ دَ کچ مؤنث وړه۔ وړوکې۔ خچه۔

کچه اړه:(کہ-چه-ا-ړه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ هغه کچه چې واړۀ واړۀ غوروټه ي وي او لَم یا لکۍ يَ هم وړه وي۔

کچه باز:(کہ-چه-باز)اسم۔ د رفتار د پاره یو طنزیه توری۔

کچه پیکه:(کہ-چه-پی-که)اسم صفت۔ شرمنده۔ شرمېدلے۔ وارخطا۔ پربشانه۔ کچه۔

کچه توب:(کہ-چه-توب)اسم۔ (۱)خام والے۔ اوم والے۔ (۲)شرمندګي۔ پیکه توب۔ (۳)کم اصلي۔ کمینګي۔

کچه عمره:(کہ-چه-عم-ره)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ نابالغه۔ د کچه عمر۔ ملک۔ دَ لږ عمر۔

کچه عمری:(کہ-چه-عم-ري)اسم۔ مؤنث۔ نابالغتوب۔ وروکوالے۔ ملکوالے۔ ملکوانه۔

کچه غرمه:(کہ-چه-غر-مه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ چې پوره غرمه لا نۀ وي۔

برېخر۔ بلبحر۔ تنګی عرمه۔ سکے ځانت۔

کچه کول:(کہ-چه-کہ-ول)مصدر متعدي۔ (۱)زر زر کېمول۔ پۀ سر سر کېمول۔ (۲)شرمول۔ حیا اخستل۔ حیرحه اخستل۔

کچه لنګ:(کہ-چه-لنګ)اسم۔ یو قسم بیماري۔

کچه لولو:(کہ-چه-لو-لو)اسم۔ کچه کونه۔ خلخلګے۔ شرمنده کونه۔

کچیره:(کہ-چی-ره)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ کځوړه۔ کجوړه۔ دَ چېلو دَ وېښتو نه جوړه شوې کځوړه۔

کچیکے:(کہ-چی-کے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ چریکے۔ ارغومے۔ پسوکے۔ چېلوکے۔ بره۔ ګوورے۔ د ګډې یا بزې بچے۔

کچي:(کہ-چي)اسم صوت۔ (۱)د چېلو دَ شړلو دَ پاره آواز۔ کچه۔ اُچي۔ اچه۔

کچي:(کہ-چي)اسم صفت۔ (۱)کچی۔ کېېدونکي سخه۔ لولی۔ پمه۔ (۲)اسم۔ د دریاب د غاړې زمکه چې فصل پکښې کرلے شي۔

کچے:(کہ-چے)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ کچے۔ دَ کرو پښو لرونکے۔ مؤنث کچی۔

کچے:(کہ-چے)اسم۔ (۱)د زمکې ساپ۔ د زمکې د حدود کره کتنه۔ (۲)وړوکے ځانګے چې ملشومانو ته اغستے شي۔

کڅ:(کڅ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)وادی۔ هغه زمکه چې دَ دریاب پۀ غاړه وي یا د دوو غرونو پۀ مینځ کښې وي۔ کڅی۔ ناوه۔ کڅه۔ (۲)شاکی۔ ګنډ۔ یو خاص قسم کېره چې د ښځینه قمیص د ګرېوان شا ته ګنډلے شي۔

کڅېر:(کڅ-ېر)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ لټ۔ ناراست۔ سُست۔

کڅخول:(کڅ-خول)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دَ غمو بوُس۔

کڅخوله:(کڅ-خو-له)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ دَ کڅ د کېږی نه جوړه شوې توبی۔

کڅکے:(کڅ-کے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د خرۀ بچے۔ کرهاتے۔ کوچے۔

کڅکے:(کڅ-کے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د پرتوغلیں سُورے۔ جمع کڅکي۔

کڅله:(کہ-کڅ-له)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ کرواته۔ کاته۔ کواته۔ د کېپاکو پېرې۔

کڅمڅے:(کڅ-مه-څے)اسم۔ غلې غلې خبرې۔ پس پسے۔ پۀ غوږ کښې غلې غلې او پټې پټې خبرې۔

کڅمغ:(کڅ-مغ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ یو قسم صحرائے بوټے چې د صحرا خلق يَ پخوي۔

کځوبے:(کہ-ځو-بے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ کځوکے۔

کځوره:(کہ-ځو-ره)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ اس پنډوکے۔

کځوړه:(کہ-ځو-ړه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ کځوڼه۔ لۀ کېږې جوړه شوی بوجی۔ تبلی۔ جمع کځوړې۔

کځوکے:(کڅ-وک)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دانه۔ ننکی۔ ګرمی۔ کځوکا۔ کوکول۔ ځځبېکے۔ کځوبے۔ کځوکے۔ دانګی۔ لکی۔ یو بیماری چې پۀ انسان غټې غټې دانې راخیژي۔ سره کانچه۔

کځوکا:(کہ-ځو-کا)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ کځوکے۔

کځونه:(کہ-ځو-نه)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ کځوړه۔ یوه بیماری چې پۀ انسان

زبر "(خ-بـۀ-ره) ، "زورکے"(شل) ، "پېښ"(تو-کـا-ره) ، "زبر"(کـ-تـاب) ، "جزم"(شکون) ، "ۀ"(و-ده) ، "ۀ"(پوسبې-سدۀ)

www.pukhto.net

پکښې دانې راخېژي- لکی- دالګی- کڅوبې- کڅوپکې- آب چیچک-

کڅوبکے:(کڅ-وی-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کڅول-

کڅه:(کـ-څه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کڅې- کڅ- (۲)دَ درياب دَ غاړې پۀ ښکته رمکه کښې دَ وِنو ځنګلې-

کڅه:(کـ-څه)اسم- واحد- مؤنث- ټکره- ټوټه- برخه- جمع کڅې-

کڅی:(کـه-څی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ کڅه/کڅ-

کحل:(کـ-حل)اسم- جمع- مذکر- سُرمه- رانجۀ (م- عربی)-

کحال:(کح-حال)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)دَ سترګو ډاکټر- دَ سترګو معالج- (۲)رانجۀ خرڅونکے- (م- عربی)-

کحیل:(کـه-حیل)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه سړے چې پۀ سترګو کښې يې رانجۀ اچولی وی- (م- عربی)-

کخ:(کخ)اسم- واحد- مذکر- (۱)یو قسم واښۀ چې ډیر زیات نرم وی- (۲)یو قسم برے چینجے- (۳)یو قسم چیچجے چې دَ ګوانو او مېږو لم لاندې پیدا کيږی-

کخ:(کخ)اسم صوت- دَ مرۍ نه راوتونکې آواز-

کختی:(کخ-تی)اسم- جمع- مؤنث- اشاړی مېوه- وچې خرمانې- مندتې- نباتاتي نوم پرونس ډومستيکا (PRUNUS DOMESTICA)-

کحرے:(کـه-حه-ړے)اسم- واحد- مذکر- دَ یو مشهوری نوم-

کخکے:(کخ-کے)اسم- واحد- مذکر- ماچس- تیلے- (افغانستان)-

کخکرے:(کخ-کـړے)اسم- واحد- مذکر- ماتې شړے- جمع کخکری-

کخی:(کـۀ-خی)اسم- جمع- مذکر- دَ وړو ماشومانو پۀ ځېټه کښې واړۀ واړۀ چینجی- کیخی- کیخی-

کخی توب:(کـه-خی-توب)اسم- پاسوانی کونه- دَ باغ ساتنه-

کخی:(کـه-خی)اسم- واحد- مؤنث- دَ چرګو يو بيماری- توخے- ټوعکے-

کخے:(کـه-خے)اسم صفت- واحد- مذکر- دَ باغ محافظ- پاسوانی کونکے-

کخے:(کـه-خے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ورشو- دَ غواګانو دَ څرولو ځای- (۲)یو قسم ماشے چې پۀ سپوږلی کښې پیدا کيږی- کیخے-

کداړه:(کـه-دا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- عوره- ټوپه- خرسک-

کداله:(کـدا-له)اسم- واحد- مؤنث- کوداله- ټسکوره- تسکوره- سسکوره- کودالی- جمع کدالې-

کدام:(کـ-دام)کلمه استفهام- څوک- څۀ- چرته- کوم- (م- فارسی)-

کدای:(کـه-دای)اسم- چرعه- چغه- (۲)یو قسم چیندخه-

کدخدا:(کد-خ-دا)اسم- واحد- مذکر- کوربه- دَ کور مالک- بادشاه- مشر- خان- ملک-

کدخدائی:(کد-خ-دا-ئی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مشری- بادشاهی- (۲)وادۀ- نکاح-

کدر:(کـ-در)صفت- پیکه- ګنده- ناصفا- (۱)تت- (۲)خفه- (م- عربی)-

کدو:(کـه-دُو)اسم- واحد- مذکر- (۱)یوه سبزی- جمع کدوان- نباتاتی نوم ممبروم ببریلی (MEMBRUM BRILE)- (۲)کمعقل- احمق- سوږر- کدوسرے- بیکاره-

کدوچه:(کـه-دو-چه)اسم تصغیر- یو قسم وړوکے کدو- دَ نباتاتي نوم دَ پاره وګورئ کدو-

کدودانه:(کـه-دو-دا-نه)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم دانه- جمع کدودانې-

کدورت:(کـه-دو-رت)اسم- کرکه- نفرت- ناراضګی- خفګان- خوابدی-

کدوړے:(کـه-دو-ړے)اسم تصغیر- واحد- مذکر- وړوکے کدو- کدوکے- جمع کدوړی-

کدوزړے:(کـه-دو-زړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ کدو تُخم- (۲)یو قسم چینجے چې پۀ ځېټه کښې کيږی- جمع کدوزړی-

کدوسرے:(کـه-دو-سـه-رے)اسم صفت- (۱)بې عقل- کم عقل- بې مغزې سړے- (۲)خالی مغزے-

کدوګک:(کـه-دو-ګک)اسم- واحد- مذکر- یوه آله چې جراحان پرې دَ کبېټلو پۀ بنیاد دَ رګ نه وینه راکاږی- ښکر- شاخک- (افغانستان)-

کدوکے:(کـه-دو-کے)اسم تصغیر- واحد- مذکر- وګورئ کدوړے-

کډ:(کډ)اسم- واحد- مذکر- کوهے- کنده- پړغل-

کډبنے:(کډ-به-نے)اسم صفت- کډه ګرځونکے- وګورئ کوبه- جمع کډبنی- مؤنث کډبنی-

کډبه:(کډ-به)اسم صفت- واحد- مذکر- کډه پۀ سر- خانه بدوش- چکنې- کډه ګرځونکے- کډمار- کډبنے-

کډغالے:(کډ-غا-لے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱) (دَ کډ او غالے مرکب) پۀ غار کښې وسېدونکے- جمع کډغالی- مؤنث کډغالې- (۲- اسم)وړوکے کور- کورګے-

کډل:(کـه-ډل)اسم- واحد- مذکر- غار- جوړی- جونګړه- جونګړه-

کډله:(کـه-ډله)اسم- واحد- مؤنث- کوډله- جونګړه- چوپال- کهر-

کډمار:(کډ-مار)اسم صفت- واحد- مذکر- خانه بدوش- چې کډه پۀ سر ګرځی- چې دَ استوګې يې څۀ خاص ځای نۀ وی- کډوال- کډبه- کډبنے- جمع کډماران- مؤنث کډماره-

کډن:(کـه-ډن)متعلق فعل- (۱)سامان بال بچ سره- عیالدار- لۀ کوټې سره- (افغانستان)-

کډنے:(کـه-ډنے)اسم- چالړ- جمع کډنی-

کډو:(کـه-ډو)اسم- کدو- (عامیانه)-

کډوال:(کـه-وال)اسم صفت- واحد جمع- عیالدار- خانه بدوش- کډبه- کډبنے-

کډواله:(کـه-وا-له)اسم- واحد جمع- مذکر مؤنث- کډه ګرځونکے- خانه بدوش- کډبه-

کډوبے:(کـه-ډو-بے)اسم- دَ اُبو جوش-

کډوړے:(کـه-ډو-ړے)اسم- واحد- مذکر- دَ کدو عامیانه قرات- وګورئ کدو-

ی (ګـی-ړل)، ي (اصي-ره-ول)، ی (ېیا-لی)، ے (تن-دے) تفصيل دَ پاره وګورئ تشریحات صفحه ۹

کړه:(کَـ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ کور سامان- اسباب- (۲)آل وعیال- (۳)تلمه- سفر- کوچ- جمع کړې- (کول/کېدل مصدرونه)-

کړه کوړه:(کَـ-ړه-کُو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- لـد کوړې- لوښي لرګي- دَ کور سامان- جمع کړې کوړې-

کړمل:(کړ-مَل)اسم- دَ شولو دَ پاره تیاره شوې زمکه-

کړۍ:(کَـ-ړۍ)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دَ جولاګانو کړۍ- څهر- دَ کنې کارګاه- (۲)مردار ړنډ- دَ سخا اُبو کنده- خندق-

کړے:(کَـ-ړے)اسم- واحد- مذکر- هغه ژور ځایُ چې جولا دَ تنستې (کنې) اوبدلو په وخت کښې پښې پکښې ځوړندوي-

کذاب:(کَـ-ذاب)اسم صفت- واحد- مذکر- دروغژن- ډېر دروغ ویونکے- سوړن- (م- عربي)-

کذب:(کذبْ)اسم- دروغ- سوړه- (م- عربي)-

کر:(کر)اسم صوت- دَ څهٔ څیز دَ شلېدلو آواز- (۲)په کاغذ دَ قلم کرخولو آواز-

کر:(کَر)اسم- دَ کرل مصدر نه اسم- وګورئ کرل-

کر:(کر)اسم صفت- کوڼ- نهٔ اورېدونکے- (م- فارسي)-

کر:(کَر)اسم صفت- شان و شوکت- رُعب- دبدبه- قوت- طاقت- هېمشه کروفر یو ځایُ راځي-

کرا:(کَـ-را)اسم صوت- (۱)کرهـار- د کرکر اواز- (۲)اسم- کرایه- (افغانستان)-

کراب:(کَـراب)اسم- دَ څناورو یوه بیماري- تبق (م- عربي)-

کراهند:(کَرا-هند)اسم- واحد- مذکر- یوه عرنیزه وُنه- کرهند-

کرات:(کَـ-رات)متعلق فعل- جمع دَ کرت- بیا بیا- بار بار- وارې- ځلې- ځل- کرتې-

کرات مرات:(کَـ-رات-مَـ-رات)متعلق فعل- بیا بیا- بار بار- ډېر ځل- څو ځله-

کراهی:(کَرا-هی)اسم- واحد- مؤنث- هغه ګاډے چې انسان او حیوان یُې راکاږي- ریړګی- ریړۍ-

کراچے:(کَرا-چے)اسم- واحد- مذکر- هغه چم چې په کودالی سره له زمکې جُدا شي- جمع کراچي-

کراره:(کَـ-را-ره)اسم- واحد- مؤنث- خرخره- دَ اُسونو دَ وېښتو خرېلو یوه آله- جمع کرارې-

کرارے:(کَـرا-رے)اسم صوت- دَ کرکر آواز- دَ کرکر مسلسل آواز-

کراړ:(کراړ)اسم صفت- سخت- محکم- کلک- کروړ-

کراړ:(کـراړ)اسم- (۱)هندو دُکاندار- (۲)صفت- ټک- غل- (۳)د اټک نه اخوا وُسېدونکي- (۴)بنیا- غله یا داني خرڅونکے- (۵)دَ هندوانو په ځلورو لویُ ذاتونو کښې دریم ذات-

کراړک:(کَرا-ړک)اسم- قروت- کُرت-

کراړه:(کَرا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)شاړه زمکه- سخته او شګلنه زمکه- شګنه زمکه- (۲)سخت قُرت-

کراړی:(کَرا-ړی)اسم صفت- دَ کراړ سره متعلق- وګورئ کراړ ۱- کانیز-

کراز:(کراز)اسم- کریز- کوریز- دَ مارغانو مرداري بنې غرخونه-

کراز:(کَـراز)اسم- واحد- مذکر- نازو ادا- کرشمه-

کرازند:(کَرا-زَند)اسم صفت- واحد- مذکر- لهٔ بدپرهیزی په وجه همېشه بیمار سړے- کراغند- کراړند-

کرازندتیا:(کَرا-زَند-تیا)اسم- مؤنث- دَ مرض وُږدوالے او غلبه- کراړندتیا-

کرازه:(کَرا-زه)اسم- واحد- مؤنث- بې مطلبه خبره- بې موده خبره- جمع کرازې-

کراړند:(کَرا-ړند)اسم صفت- وګورئ کرازند-

کراړندتیا:(کَرا-ړند-تیا)اسم- وګورئ کرازندتیا-

کراسته:(کَراس-ته)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ وړې جوړ شوے لمڅے- (۲)هغه څیز یا غله دانه چې دَ لوندوالي لهٔ کبله ښهٔ نهٔ میده کیږي-

کراسته:(کَراس-ته)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم ساګ چې دَ نکولی دَ خوشبویه کولو دَ پاره پکارولے شي- کراسته ګی-

کراسته ګر:(کَراس-ته-ګر)اسم صفت- واحد- مذکر- لمڅی جوړوُنکے-

کراسته ګی:(کَراس-ته-ګی)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم ساګ- وګورئ کراسته ۲-

کراستے:(کَراس-تے)اسم- (۱)دَ ډېر کار په وجه دَ لاس پښو سختي- (۲)کره- رسوا-

کراغ:(کَراغ)اسم صفت- واحد- مذکر- کړاغي سترګي لرونکے- کړاغ- نرے نروچکے- کمزورے-

کراغند:(کَرا-غَند)اسم صفت- وګورئ کرازند-

کراکنه:(کَرا-کَن-ړه)اسم صفت- واحد- مذکر- کم قوته- کمزورے- ضعیف- ناتوانه- بې سېکه-

کرام:(کـرام)اسم صفت- جمع- مذکر- سخیان او ښهٔ خلق- بزرګان- نېکان- (عربي)-

کراماً کاتبین:(کـرا-مَن-کا-تِ-بین)اسم- جمع- مذکر- دوه فرښتې چې دَ بنده اعمال لیکي-

کرامت:(کـرا-مَت)اسم- واحد- مذکر- بزرګی- معجزه- جمع کرامات- (عربي)-

کرامتي:(کـرا-مـ-تي)اسم- واحد- مؤنث- دَ کرامت خاوند- کرامت لرونکے-

کرامکله:(کَـرام-کـ-له)اسم- مؤنث- یوه سبزي-

کرانچی:(کَران-چی)اسم- مؤنث- کراچی- دَ غویانو ګاډے- لویه ریړه یا چکړه ګاډے- کراچی-

کران کران:(کَران-کَران)اسم صوت- کل کل- دَ کارغهٔ آوازونه-

کرانے:(کَـرا-نے)اسم صفت- کرستیانے- کرسٔتیانے- عیساني- چوړے-

زبر "(خ-سـ-ره)، "زورکیے"(شل)، "پېش"(نو-کـا-ره)، "زېر"(کـ-تاب)، "جزم"(شکوڼ)، "ه"(ز-ړه)، "ۀ"(ړه-چې-دهٔ)

کراوړه:(که-راو-ړه)اسم- مؤنث- کرواړه- په درمن کښې پاتې شوی غله-

کراوے:(کرا-وے)اسم- واحد- مذکر- موکل- وکیل ته خپله مقدمه ورکونکے-

کراوے:(که-را-وے)اسم صفت- (۱)نګهبان- ساتونکے- محافظ- (دَ فصل وغیره)- (۲)سرپرست-

کراه:(کراهَ)اسم- (۱)پوری- (۲)کرایه- کرایه بلندی ورکونه-

کرامت:(که-را-مَت)اسم- (۱)کرکه- نفرت- (۲)هغه خبره چې شرعاً مکروه وی- (م- فارسی)-

کرامیت:(که-را-می-یَت)اسم- واحد- مذکر- وګوری: کرامت-

کرانے:(کرا-نے)اسم- واحد- مؤنث- جامه-

کرایه:(که-را-یه)اسم- واحد- مؤنث- کرائی- باړه- اجرت- معاوضه-

کرایه دار:(که-را-یه-دار)اسم صفت- مذکر- څوک چې دَ کرائۍ په کور کښې وسی- کرایه کش-

کرایه کش:(که-را-یه-کَش)اسم صفت- وګوری: کرایه دار-

کرائی کش:(که-را-ئی-کَش)اسم صفت- واحد- مذکر- کرایه کش- کرایه کښ- کرایه دار-

کرائی:(که-را-ئی/که-رائ)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: کرایه-

کرب:(کَرب)اسم- واحد- مذکر- تول- درد- تکلیف- (م- عربی)-

کرب:(که-رب)اسم- سل زره ملینه

کرباس:(کر-باس)اسم- واحد- مذکر- خامته- الوان- چیټ- دَ ملوچو جوړ ټوکے- بیستی-

کربانه:(کر-با-نه)اسم- (۱)تور پرتیدونکے رنګ- (۲)یو تور بوټے-

کربذ:(کَر-بذ)اسم- پاپوس- پښوت کونکے-

کربسکه:(کَر-بَس-که)اسم- واحد- مؤنث- کربوسکه- کربیسکه- کربسه- پومبه- مالوچ- جمع کربسکې-

کربسه:(کَر-بَ-سه)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: کربسکه- جمع کربسې-

کربښا:(کَر-بَ-ښا)اسم- واحد- مذکر- دَ یو ځناور نوم- کبرغان- قبرغان- کربوښا-

کربشار:(کَرب-شار)اسم- واحد- مذکر- دَ یری وَنې نامه-

کربک:(کَر-بَک)اسم- واحد- مذکر- کربوړک- کربوړے-

کربل:(کَر-بَل)اسم- (۱)کوربل- (۲)لودره- کچه ګینده- تک-

کربلا:(کَر-به-لا)(۱)دَ کرب و بلا مخفف- غم- درد- (۲)کمے- قحط- سوکړه- (۳)دَ عراق دَ یو ښار نوم چرته چې حضرت امام حُسینؓ علیه السّلام سره دَ ملګرو شهید شوے وو- (م- عربی)-

کربوړ:(کر-بوړ)اسم- واحد- مذکر- کورنی چمچورکی- کربوړے- دَ مصری په شان یو قسم خزنده- کربک- کربوړک-

کربوړک:(کَر-بو-ړک)اسم- واحد- مذکر- وګوری: کربوړ-

کربوړے:(کَر-بو-ړے)اسم- واحد- مذکر- وګوری: کربوړ-

کربوسکه:(کَر-بوس-که)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: کربسکه- جمع کربوسکې-

کربوښا:(کَر-بو-ښا)اسم- واحد- مذکر- وګوری: کربښا-

کربک:(کَر-بَک)اسم- واحد- مذکر- وګوری: کربوړ-

کربیټ:(کَر-بیټ)اسم صفت- کږے- کوږ ووږ-

کربېزن:(کَر-بې-زَن)اسم صفت- کرمېزن- قرمېزن- ګرېنګن- پوواړ-

کربېزے:(کَر-بې-زے)اسم- قرمېزے- کرمېزے- لاړې- خرمېزې- ګرېنګ-

کربېکے:(کَر-بې-کے)اسم- واحد- مذکر- دَ پومبې لړکے-

کرپ:(کرَپ)اسم صوت- دَ څهٔ نری او وچ څیز دَ ماتېدو اواز-

کرپا:(کَر-پا)اسم صوت- دَ نری او وچ څیز دَ ماتېدو مسلسل آواز- کرپار-

کرپار:(کَر-پار)اسم صوت- وګوری: کرپا-

کرپال:(کَر-پال)اسم صفت- واحد- مذکر- ډېرې زیاتې خبرې کونکے-

کرپالے:(کَر-پا-لے)اسم- واحد- مذکر- کرپل- کرپړ- لهه- هغه ختّه چې دَ سیلاب دَ اوبو نه لاندې پاتې شی او دَ وچېدو نه پس چودی چودې وی-

کرپان:(کَر-پان)اسم- واحد- مذکر- یو قسم خنجر چې سیکان یې ګرځوی-

کر پړ:(کَر-پړ)اسم- بکواس- بې هوده خبره-

کرپړ:(کَر-پړ)اسم- واحد- مذکر- وګوری: کرپال-

کرپل:(کَر-پَل)اسم صفت- واحد- مذکر- وګوری: کرپالے-

کرپند:(کَر-پَند)اسم صفت- وګوری: کرپندے-

کرپندوکے:(کَر-پَن-دو-کے)اسم- واحد- مذکر- پوست (نرم) هډوکے- وګوری: کرپندے-

کرپندے:(کَر-پَن-دے)اسم- واحد- مذکر- ککرکے- کرچے- هغه هډوکے یا بل څیز چې دَ چیچولو په وخت کرچ کرچ کوی- جمع کرپندی-

کرپول:(کَر-پول)مصدر متعدی- غاښونو سره ماتول- غاښونو سره کرچول-

کرپون:(کَر-پون)حاصل مصدر- وګوری: کرپول-

کرپونکے:(کَر-پون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری: کرپول-

کرپونګ:(کَر-پونګ)حاصل مصدر- وګوری: کرپول-

کرپونه:(کَر-پو-نه)حاصل مصدر- وګوری: کرپول-

کرپېدل:(کَر-پې-دَل)مصدر لازم- په غاښونو ماتېدل- کرچېدل-

کرپېدن:(کَر-پې-دَن)حاصل مصدر- وګوری: کرپېدل-

کرپېدنګ:(کَر-پې-دَنګ)حاصل مصدر- وګوری: کرپېدل-

کرپېدنه:(کَر-پې-دَنه)حاصل مصدر- وګوری: کرپېدل-

کرپېدونکے:(کَر-پې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری: کرپېدل-

کرپېدهٔ:(کَر-پې-دهٔ)حاصل مصدر- وګوری: کرپېدل-

کرت:(که-رَت)متعلق فعل- پېره- بار- وار- ځل- کرته-

کرت:(کَرت)اسم- قُرت- قروت- یو قسم پخکړے چې دَ اربشو دَ اوړو او شوملو نه جوړولے شی- وچې کړې شوملې-

کرتب:(کَر-تَب)اسم- واحد- مذکر- کار- تجربه- لیاقت- هنر- کمال- سیاه ګری- بازی ګری- چالاکی-

کرتوت:(کَر-توت)اسم- مذکر- عمل- چال- عادت- کردار- چالاکی-

www.pukhto.net

ناکاره کار- بد کار- کړنه- د چالاکۍ کار-

کرته:(کَـرٍه-تَه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ کرت-

کرته:(کُرـتَه)اسم- واحد- مؤنث- قمیص- خت- پېړنی-

کرچ:(کَرچ)اسم- واحد- مذکر- زوړ باز- اموخته باز- ساتلے باز- کرچ- کرچے- کرچے-

کرچے:(کَرهٔ-چے)اسم- واحد- مذکر- (۱)د سهو یو قسم- (۲)وګورئ کرچ-

کرخ:(کَرخ)اسم صفت- واحد- مذکر- سست- لټ- ناراسته- تمبل-

کرچ:(کَرچ)اسم- واحد- مذکر- کریچ- وړه توره- کرچے- جمع کرچونه-

کرچ:(کُرچ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کرچ- ساتلے باز-

کرچ:(کَرچ)اسم صوت- دُ غاښونو د چیچلو اواز- خرچ- (۲)کرپ-

کرچ کروچ:(کرچ-کروچ)اسم صوت- د کچه مېوې لکه مولۍ، ګاځرې، بادرنګ وغیره د خوړولو آواز-

کرچل:(کرهٔ-چل)مصدر- کرچول- څهٔ څیز دٔ غاښونو سره ماتول یا قېنچۍ سره پرېکول-

کرچل:(کَرـچل)صفت- (۱)وګورئ کچل- (۲)مصدر- وګورئ کرچول-

کرچم:(کرـچم)اسم صفت- زعفران-

کرچند:(کرهٔـچند)اسم صفت- (۱)کلک- سخت- (۲)کرچ کرچ کوونکے-

کرچندي:(کرهٔ-چن-دي)اسم صفت- معه نرۍ او کرېپدلې څیزونه چې کرچ کرچ (کرهارے) کوي- کرپندي-

کرچندي:(کرـچن-دي)اسم- جمع- مؤنث- سمونه- نوکونه- د خارور کېږي او سمونه-

کرچوکے:(کَرهٔـچو-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- سرلېښتے- کرچندے- چچونکے- کرپندے- کرکے- کرچونے-

کرچول:(کَرهٔ-چـول)مصدرِ متعدي- (۱)څهٔ څیز پهٔ غاښونو ماتول- (۲)څهٔ څیز قېنچۍ سره پهٔ تېزه پرېکول-

کرچولے:(کرهٔـچـوهٔلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ کرچول-

کرچون:(کرهٔـچـون)حاصل مصدر- وګورئ کرچول-

کرچونکے:(کره-چـوون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ کرچول-

کرچونګ:(کرهٔـچـونګ)حاصل مصدر- وګورئ کرچول-

کرچونه:(کرهٔـچـونـه)حاصل مصدر- وګورئ کرچول-

کرچونے:(کرهـچـوهٔنے)اسم صفت- پوست او نرم مېوګے- کرچے- کرپندے-

کرچهار:(کرهٔـچـهار)اسم صوت- د کرچ کرچ آواز-

کرچېدل:(کرهٔـچې-دل)مصدر لازم- پهٔ غاښونو ماتېدل- پهٔ غاښونو کښې رېزګې کېدل-

کرچېدن:(کرهٔـچې-دن)حاصل مصدر- وګورئ کرچېدل-

کرچېدنګ:(کرهٔـچې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ کرچېدل-

کرچېدنه:(کرهٔـچې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ کرچېدل-

کرچېدونکے:(کرهٔـچې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ کرچېدل-

کرچېدهٔ:(کرهٔـچې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ کرچېدل-

کرچے:(کرهٔـچے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم ساګ- شلتم- جمع کرچي-

کرچے:(کرـچے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کرچ-

کرچے:(کرهٔـچے)اسم صفت- واحد- مذکر- زړهٔ تنګے- ژر غصه کېدونکے- خراب طبیعته-

کرچے:(کرهٔـچے)اسم صوت- پهٔ غاښونو د څهٔ سخت څیز د خوړلو آواز- کرچهار-

کرځے:(کرهٔـځے)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ کرچوکے-

کرخ:(کرخ)اسم- واحد- مذکر- د بدن هغه حصه چې بې حسه شي- سړنګ- سړنګوړ- سوړسمخ- کرخ-

کرخت:(کرـخت)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)سخت- تند- (۲)وګورئ کرخ- مړ- بې حرکته- سوړ- بې تودوخې- (۳)پهٔ قرار- پهٔ قلار-

کرخولکه:(کرـخو-لـه-که)اسم- واحد- مؤنث- پهٔ لرګی باندې دُ تورلو نه زروسټو پاتې زیروالے-

کرخه:(کرـخه)اسم- واحد- مؤنث- لوبیا- بابرینګ- باېرۍ- نباتاتي نوم بوټي کلس سائنټنز (DOLICHOS SINENSIS)- جمع کرخې-

کرخي:(کرـخي)اسم- واحد جمع- مؤنث- پلي لرونکے یو قسم بوټے چې خاوري ی خوري-

کورنی:(کو-رنی)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)هغه زنانه چې د جینی کور کښې دَ خپلو خپلوانو لهٔ کورونو دَ هغې دَ وادهٔ پهٔ ورځ راټولې شي- (۲)کورمه- خاندان- د قبیلې یو څانګه- (۳)دَ "کورنے" مؤنث-

کورنی غوړے:(کو-رنی-غو-ړے)اسم- واحد- مذکر- استانه دار- ستانه دار-

کورنے:(کو-رنے)اسم صفت- خاندانی- خپل- دَ خپل کالهٔ پهٔ کور کښې ساتلے شوے- جمع کورنی-

کورواکے:(کور-وا-کے)اسم صفت- د کور مالک- دَ کور اختیار لرونکے-

کوروالے:(کور-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- دَ خپلې ښځې سره مباشرت کونه- د ښځې او خاوند پهٔ جنسی توګه یوځای کېدنه- هم بستری- جمع کوروالی-

کوروتری:(کور-وت-ری)اسم- دَ کور لوښی لرګی- لوښی کودی- دَ کور دَ استعمال اسباب-

کوروداني:(کور-و-دا-نی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وادهٔ کونه- (۲)کور جوړونه-

کوروداني:(کور-و-دا-ني)اسم- واحد جمع- مؤنث- ښځه- تېر-

کوروړانے:(کور-وړا-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)کورخورے- خانه خراب- (۲)در پهٔ در- مر وطلے مر وطلے- (۳)شړی- وران- ورانکارے-

کوروغ:(کو-روغ)اسم- واحد- مذکر- ورشو- چمن-

کوروکر:(کو-رو-کر)اسم صفت- ګېډور- وارحطا-

کوروکلے:(کو-رو-ګلے)اسم- مړے ژوندے- غم ښادی- راشه مرشه- اند ګازنو- کور ګازنو-

کوروکورو:(کو-رو-کو-رو)اسم صوت- (۱)د خر دَ راښللو آواز- (۲)دَ ګډې چېلې دَ راښللو اواز-

کوروولی:(کور-و-ولی)اسم- وګورئ کوروالے-

کوره:(کو-ره)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)هغه خاورین لوښے چې استعمال شوے نهٔ وی- (۲)کورنے- د کور- (۳)ملی- پاک- (۴)شمکور- (۵)شوله- (۶)ښتی- داش-

کورهار:(کو-ره-هار)اسم صفت- دَ چیندخې اواز- دَ چیلم څښلو اواز- کوړمار- کوړهار-

کوریز:(کو-ریز)اسم- (۱)قریږ- د مارغهٔ یا چرګ نوې راوتلې بڼې- (۲)پهٔ زمکه دننه د ابو وله- کاریز-

کوړي:(کو-ړي)اسم صوت- دَ سپی شړلو آواز-

کوړبلے:(کو-ړی-لے)اسم- واحد- مذکر- سینه بند- دَ مریض دَ سینې او ترح ترلو څرمن- جمع کوړبلی-

کوړے:(کو-ړے)اسم- واحد- مذکر- ږیری- ږیرے- امبار- غنډی- جمع کوړی-

کوړے:(کو-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ترنګې- لهٔ میزری جوړ تمبوزګه- (۲)رغومے- جمع کوړی-

کوړے:(کو-ړے)اسم- واحد- مذکر- زیړلرګے- زرشک- جمع کوړی-

کوړے:(کو-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)تریو خوند لرونکے یو قسم وابنهٔ- نباتاتی نوم بربرس لیسیم BERBERIS LYCIUM- (۲)یو قسم مری-

کوړ:(کوړ)اسم صوت- د چړواړی آواز- کوړ کوړ-

کوړ:(کوړ)اسم- واحد- مذکر- د لرګی سوری تخته چې دَ شملو کولو پهٔ وخت د دریی دَ پاسه پوته وی او منداڼو پکښې چورلولے شي-

کوړ:(کوړ)اسم صفت- کوږمډ- یو طرف ته راټیټ-

کوړازغے:(کوړ-از-غے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم ازغی لرونکی وابنهٔ-

کوړاغ:(کو-ړاغ)اسم- واحد- مذکر- دَ څملورو یوه بیماری چې لهٔ خلې ې یکښې لاړې بهیږی-

کوړتک:(کوړ-تک)اسم- واحد- مذکر- لپهتی- لپتی- لټوب- اوماچ-

کوړته:(کوړ-ته)اسم- واحد- مؤنث- ښکته- کوز- لړ-

کوړتیس:(کوړ-تیس)اسم- واحد جمع- مذکر- کارتوس-

کوړچ:(کو-ړچ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کوړچے-

کوړچے:(کوړ-چے)اسم- واحد- مذکر- کوړچنے- د شپانو یا ښکاریانو پهٔ صحرا کښې دَ دمې ځای- کوړچ- جمع کوړچی-

کوړچالے:(کوړ-چا-لے)اسم- واحد- مذکر- کچالو- یوه سبزی- جمع کوړچالی- نباتاتی نوم ارم کالو کشیا ARUM CALO CASIA-

کوړځو:(کوړ-ځو)اسم- واحد- مذکر- کړځو- وګورئ ارکاره-

کوړژن:(کوړ-ژن)اسم صفت- کوړی- جذامی- د کوړ پهٔ مرض اخته- د برګی رنځور-

زبر"(ج-بهٔ-ره)، زورکے"(شل)، پېش"(نو-کا-ره)، زېر"(ک-تاب)، جزم"(شکون)، ۂ"(ر-وه)، ۂ"(پو-ښی-ده)

www pukhto net

کوړکبه:(کوړ-کـه-بـه)اسم- واحد- مؤنث- وګوری ږیره-

کوړکوتے:(کوړ-کو-تے)اسم- واحد- مذکر- هغه مریض چې ګـتي يُ جذام رژولې وی-

کوړ کوړ:(کوړ-کوړ)اسم صوت- (۱)د کوکوشتکي آواز- (۲)دَ چړچړلی آواز-

کوړکوړی:(کوړ-کو-ړی)اسم- واحد بجمع- مؤنث- کوړکوړه- د کونتري مومره یو صحرائی مرغی چې دَ کوړ کوړ آواز کوی-

کوړکه:(کوړ-که)اسم- واحد- مؤنث- کولی- غنډارے-

کوړکه:(کړ-کـه)اسم صفت- (۱)هغه چرګه چې اګی اچول يُ بند کړي وی- (۲)دَ چرګې هغه وخت چې پهٔ اګیو کښېنولے شی-

وړکېچن:(کوړ-کي-چن)اسم صفت- (۱)مرغیچن- (۲)اوده-

کوړکی:(کوړ-کی)اسم- واحد بجمع- مؤنث- (۱)پرکه- (۲)درکے- (۳)دام- (۴)ترک-

کوړکوړه:(کوړ-کو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- وګوری کوړکوړی-

کوړم:(کو-ړم)اسم- واحد- مذکر- دَ ابو بند-

کوړمکے:(کوړ-مه-کے)اسم تصغیر- واحد- مذکر- کوړم- وړوکے قدرتی تالاب- جمع کوړمکی-

کوړمګے:(کوړ-مه-ګے)اسم تصغیر- وړوکے- وړوکے بند-

کوړمن:(کوړ-من)اسم صفت- دَ کوړ مریض- پمن-

کوړمه:(کوړ-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کولمه- (۲)ټبر- خاندان- کول- کورنی- زوزاد- (۳)نخه- (۴)اوربل-

کوړنج:(کو-ړنج)اسم صوت- د سپی فریاد- د سپی ژړا- کوړنج-

کوړنج:(کو-ړنج)اسم صوت- د سپی مسلل آواز- کوړنج-

کوړنچا:(کو-ړن-چا)اسم صوت- وګوری کوړنج-

کوړنچول:(کو-ړن-چه-ول)مصدر- سپے چړول- سپے چوںګول- سپے پهٔ عپاری راوستل-

کوړنچون:(کو-ړن-چه-ون)حاصل مصدر- وګوری کوړنچول-

کوړنچونکے:(کو-ړن-چه-ورن-کے)اسم فاعل- جمع کوړنچونکی- مؤنث کوړنچونکې- وګوری کوړنچول-

کوړنچونګ:(کو-ړن-چه-ونګ)حاصل مصدر- وګوری کوړنچول-

کوړنچونه:(کو-ړن-چه-و-نه)حاصل مصدر- وګوری کوړنچول-

کوړنچېدل:(کو-ړن-چي-دل)مصدر لازم- سپے چوېدل- سپے چونګېدل- سپے پهٔ عپاری کېدل-

کوړنچېدن:(کو-ړن-چي-دن)حاصل مصدر- وګوری کوړنچېدل-

کوړنچېدنګ:(کو-ړن-چي-دنګ)حاصل مصدر- وګوری کوړنچېدل-

کوړنچېدونکے:(کو-ړن-چي-دون-کے)اسم فاعل- جمع کوړنچېدونکی- مؤنث- کوړنچېدونکې- وګوری کوړنچېدل-

کوړنچېدنه:(کو-ړن-چي-د-نه)حاصل مصدر- وګوری کوړنچېدل-

کوړنچېدهٔ:(کو-ړن-چي-دهٔ)حاصل مصدر- وګوری کوړنچېدل-

کوړنچے:(کو-ړن-چے)اسم صوت- وګوری کوړنج-

کوړنګ:(کو-ړنګ)اسم صفت- بې پړوله لوړ قد لړونکے-

کوړنګه:(کو-ړنګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- پهٔ اګو ناسته چرګه-

کوړول:(کو-ړه-ول)مصدر- (۱)دَ چیلم وغیره دَ کړ کړ آواز وېستل- (۲)خوړندول- خړول-

کوړون:(کو-ړه-ون)حاصل مصدر- وګوری کوړول-

کوړونکے:(کو-ړه-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع کوړونکی- مؤنث کوړونکې- وګوری کوړول-

کوړونګ:(کو-ړه-ونګ)حاصل مصدر- وګوری کوړول-

کوړونه:(کو-ړه-و-نه)حاصل مصدر- وګوری کوړول-

کوړوے:(کوړ-وے)اسم- (۱)پړوپ- (۲)دَ غنمو دَ پېمانه کولو يو لوښے- (۳)دَ لوخو وړه ټوکری-

کوړه:(کو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ څرمنې چابک- (۲)پېچلے- سره نغښے-

کوړه (کو-ړه)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه سړے چې لهٔ خبرې نه خبره وباسی- جنجالی-

کوړه:(کو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)حس و خشاک وغیره- (۲)کنده- (۳)دَ غرونو يو ازغن بوټے- جمع کوړې-

کوړه:(کو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- امبار- ډېرے- جمع کوړې-

کوړی:(کو-ړی)اسم صفت- واحد- مذکر- پمن- جذامی- دَ جذام (کوړ) پهٔ رنځ اخته-

کوړیت:(کو-ړیت)اسم صفت- (۱)مراوے شوے- ګـنجې شوے- کوت شوے- (۲)مضمحله شوے-

کوړیته:(کو-ړي-ته)اسم- واحد- مؤنث- چومره- ګـنجې- تاو راتاو- ول ول-

کوړیتے:(کو-ړي-تے)اسم- وګوری کوړیته-

کوړینګ:(کو-ړینګ)اسم صفت- کانړے- کاږینګ-

کوړېدل:(کو-ړي-دل)مصدر لازم- (۱)کړېدل- کروېدل- (۲)اوېزاندېدل- نښتل-

کوړېدن:(کو-ړي-دن)حاصل مصدر- وګوری کوړېدل-

کوړېدنګ:(کو-ړي-دنګ)حاصل مصدر- وګوری کوړېدل-

کوړېدنه:(کو-ړي-د-نه)حاصل مصدر- وګوری کوړېدل-

کوړېدونکے:(کو-ړي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع کوړېدونکی- مؤنث کوړېدونکې- وګوری کوړېدل-

کوړېدهٔ:(کو-ړي-دهٔ)حاصل مصدر- وګوری کوړېدل-

کوړی:(کو-ړی)اسم- واحد بجمع- مؤنث- يوه غرنیزه ونه-

کوړی:(کو-ړی)اسم- واحد بجمع- مؤنث- (۱)ټانګی- سره پېسه- سره ټبکی- (۲)کنجکه- دمړی- کاسیره- (۳)شل عدده لړګی- (۴)دَ لړګی يوه غټه ګول ټوټه چې غوټه پری قیمه کولے شی- (۵)انبار- دلی- (۶)کوړمه- کورنی- (۷)جونګړه- جونګړه-

ی" (ځی-رل)، ي"(مي-ره-ول)، ی"(بیا-لي)، ې"(تن-دي) تفصیل د پاره وګوری تشریحات صفحه ۱

www pukhto net

کوړے:(کو-ړے)اسمِ صفت- واحد- مذکر- (۱)کوړی- جذامی- د کوړ په رنځ اخته- کوړی په لنګی- (۲- اسم)د غوا ورو کے بچے-

کوړے:(کو-ړے)اسمِ صوت- د سخی صحی وغیره د رامنغ کولو اواز- چکوړے-

کوز:(کوز)صفت- (۱)ښکته- ژور- د بره ضد- ټیټ- کوږ- خوړند- ځوړ- (۲)اسم- کوزه-

کوز پاس:(کوز-پاس)اسم مرکب- (۱)لاندي باندي- ښکته پورته- لوړ ژور- ټیټ هسک- (۲)خاته په پرموانته-

کوزده:(کوز-ده)اسم- واحد- مؤنث- کوژدن- کوږدن- کوژده-

کوز راکوز:(کوز-را-کوز)اسم مرکب- ښکته پورته-

کوزړی:(کو-زه-ړی)اسم تصغیر- واحد جمع- مؤنث- (۱)ورو کې کوزه- کوزنۍ- (۲)د ښکې په شان یو قسم ساګ-

کوزسترګے:(کوز-ستر-ګے)اسمِ صفت- ملامته- شرمنده- جمع کوزسترګی- مؤنث کوزسترګې-

کوزغالے:(کوز-غالے)اسم- مات کمبولے چې چرګو چرګانو ته پکښې اُبه کېښودے شي- جمع کوزغالي-

کوزګوړے:(کوز-ګو-ړے)اسمِ صفت- کوزسترګے- ټیټ سترګے- کوزکتونکے-

کوزبے:(کو-زه-بے)اسم صفت- واحد- مذکر- ښکتنے- ښکېنے- لاسکېنے- لاندینے-

کوزنۍ:(کو-زه-نۍ)اسم تصغیر- واحد جمع- مؤنث- کوزړی- وړه کوزه-

کوزوالے:(کوز-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- کوزتوب- ټیټوالے- ښکته والے-

کوزول:(کو-زه-وَل)مصدرِ متعدی- ښکته کول- لاندې کول-

کوزون:(کو-زه-ون)حاصل مصدر- وګورئ کوزول-

کوزونکے:(کو-زه-وون-کے)اسمِ فاعل- جمع کوزونکی- مؤنث کوزونکې- وګورئ کوزول-

کوزونګ:(کو-زه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ کوزول-

کوزونه:(کو-زه-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ کوزول-

کوزوه:(کو-زه-وه)حاصل مصدر- وګورئ کوزول-

کوزه:(کو-زه)اسم- واحد- مؤنث- یو خاورین لوښے چې د لاسونو وینځلو یا لمبلو د پاره پکاریږي-

کوزه اخستل:(کو-زه-اَخس-تَل)مصدرِ ترکیبی- بالغ کېدل- ځوان کېدل- زلمے کېدل-

کوزه خوا:(کو-زه-خوا)اسم- لښکې- کوز وطن- ښکته وطن- لاندی طرف-

کوزه ژامه:(کو-زه-ژا-مه)اسم- واحد- مؤنث- لره ژامه- لاندینۍ ژامه-

کوزه شونډه:(کو-زه-شون-ډه)اسم- واحد- مؤنث- لره شونډه- لاندینۍ شونډه-

کوزی:(کو-زی)اسم- واحد- مؤنث- د یوې سبزۍ/دال نامه-

کوزیانه:(کوز-یا-نه)اسم- د سخر کورنۍ ته د زوم ورووستل چې خاص مراسم لري- (افغانستان)-

کوزېدل:(کو-زې-دل)مصدرِ لازم- لاندې کېدل- لاندې راتلل- (په خېلو پښو)-

کوزېدن:(کو-زې-دن)حاصل مصدر- وګورئ کوزېدل-

کوزېدنګ:(کو-زې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ کوزېدل-

کوزېدنه:(کو-زې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ کوزېدل-

کوزېدونکے:(کو-زې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع کوزېدونکی- مؤنث کوزېدونکې- وګورئ کوزېدل-

کوزېده:(کو-زې-ده)حاصل مصدر- وګورئ کوزېدل-

کوږ:(کوږ)اسمِ صفت- کوږ- کږ- کج- (م- فارسی کج)-

کوږتے:(کو-ږ-تے)اسم صفت- بوږتے- روژه خور- هغه کس چې روژه یې نه وی- د روژتی ضد-

کوژدن:(کوژ-دن)اسم- واحد- مؤنث- کوږدن- په نکاح کونه- جینی خوښونه-

کوژدنه:(کوژ-د-نه)اسم- واحد- مؤنث- کوژدن- کوژده- نامزدګی- شیرین خوری- نیوکه-

کوژدنېدل:(کوژ-د-نې-دل)مصدرِ لازم- کوېژده کېدل- کوژدن کېدل- کوژده کېدل-

کوژدنېدن:(کوژ-د-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ کوژدنېدل-

کوژدنېدنګ:(کوژ-د-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ کوژدنېدل-

کوژدنېدنه:(کوژ-د-نې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ کوژدنېدل-

کوژدنېدونکے:(کوژ-د-نې-دون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع کوژدنېدونکی- مؤنث کوژدنېدونکې- وګورئ کوژدنېدل-

کوژدنېده:(کوژ-د-نې-ده)حاصل مصدر- وګورئ کوژدنېدل-

کوړ:(کوړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)کوړبل- یو ماتونکے ځناور- (۲- صفت)د نبغ ضد- ټیټ- جمع کاړه-

کوړبل:(کوړ-بل)اسم- واحد- مذکر- کوړ- بړو- یو ماتونکے ځناور-

کوړتوب:(کوړ-توب)اسم- کوړتیا- کوړوالے-

کوړخلے:(کوړ-خلے)اسم صفت- واحد- مذکر- د کږې او ورانې خلې خاوند- چې خله یې کږه وی-

کوړدنه:(کوړ-د-نه)اسم- واحد- مؤنث- کوژدنه- کوږدن- کوژدن-

کوړ راکوړ:(کوړ-را-کوړ)اسم صفت- وران ویجاړ- تاړ راتاړ- کنډو کپر- کوږ وږ-

کوړزړے:(کوړ-زړے)اسم صفت- بدنیته-

کوړسترګے:(کوړ-ستر-ګے)اسم صفت- د کږو سترګو خاوند- چپک-

کوړکوړ:(کوړ-کوړ)اسم صفت- وګورئ کوږ وږ-

کوړکین:(کوړ-کین)اسم صفت- واحد- مذکر- کوږ وږ- په ترخ- ګټ په ګټ- وران ویجاړ-

کوړل:(کو-ړل)مصدرِ لازم- (۱)محنت کول- کار کول- زحمت ایستل- خواری کول- (۲)حرکت کول- کوړېدل- (۳)کړل- نظر نه ګرځول- صبرول- رد کول-

زبر "(خ-مېڅ-ره)، زور کیے "(شل)، "پېش"(نو-کا-سره)، رمز (ک-ساب)، جزم (شکوب) ٥(ر-ړه) ۀ(پو-سې-ده)

www.pukhto.net

کوړلړګے:(کوړ-لړ-ګے)اسم صفت- واحد- مذکر- ضدی سړے- نهٔ منونکے-
کوړمغزے:(کوړ-مغ-زے)اسم صفت- جاهل- نهٔ پوهېدونکے-
کوړنه:(کو-ړ-نه)اسم- واحد- مؤنث- پښتنه-
کوړنه:(کو-ړ-نه)حاصل مصدر- وګورئ کوړل-
کوړوالے:(کوړ-وا-لے)اسم- کوږتوب- دَ نېغوالی ضد-
کوړول:(کو-ړ-ول)مصدر متعدی- (۱)کږول- (۲)حرکت ورکول- خوځول-
کوړون:(کو-ړ-ون)حاصل مصدر- وګورئ کوړول-
کوړونکے:(کو-ړ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع کوړونکي- مؤنث کوړونکې- وګورئ کوړول-
کوړونګ:(کو-ړ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ کوړول-
کوړونه:(کو-ړ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ کوړول-
کوړووړ:(کوړ-ووړ)اسم صفت- تاروتاړ- وران ویجاړ- کنډوکپر-
کوړوۀ:(کو-ړ-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ کوړول-
کوړه:(کو-ړه)اسم صفت- (۱)کمه- لاندې پرېوتې- سپکه- ادنی- کم قیمته- (۲)کوشش- خواری-
کوړی:(کو-ړی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خوښی- مرضی- غښتنه- (۲)خوشحالی- ښادی-
کوړېدل:(کو-ړې-دل)مصدر لازم- (۱)تاوېدل- دَ خپلې لارې نه بل اړخ ته کېدل- (۲)کږېدل-
کوړېدن:(کو-ړې-دن)حاصل مصدر- وګورئ کوړېدل-
کوړېدنګ:(کو-ړې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ کوړېدل-
کوړېدنه:(کو-ړې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ کوړېدل-
کوړېدونکے:(کو-ړې-دون-کے)اسم فاعل- جمع کوړېدونکي- مؤنث کوړېدونکې- وګورئ کوړېدل-
کوړېدۀ:(کو-ړې-دۀ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ کوړېدل-
کوړے:(کو-ړے)اسم صفت- کوږ ووږ- کوږختے- جمع کوړی-
کوس:(کوس)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ کُس- جمع کوسونه-
کوس:(کوس)اسم- واحد- مذکر- خنزیر- بد ځناور-
کوس:(کوس)اسم- واحد- مذکر- نغاره-
کوسا:(کو-سا)اسم- واحد- مذکر- کوسه- هغه سړے چې ږیره یې بیخی نهٔ کیږی-
کوساټے:(کو-سا-ټے)اسم تصغیر- وګورئ کُس-
کوس پټاخه:(کوس-پټا-خه)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)کُس پټاخه- خرابه ښځه- (۲)دَ غصې په وخت دَ کنځلو په طور وئیلے شی- جمع کوس پټاخې-
کوستیج:(کوس-تیج)اسم- د پرتوګاڼو بند-
کوستېزن:(کوس-تې-زن)اسم صفت- (۱)بې غېرته- بې شرمه- (۲)دا لفظ د کنځلو په وخت دَ نفرت د پاره استعمالیږی-
کوس خرپ:(کوس-خرپ)کلمه- د کنځلو کلمه-
کوسر:(کو-سر)اسم- کونسر- قوصر- تپسر- سرسام- خپله یو مرض یا دَ بل سخت مرض په سبب یوه ناروغی پیدا کیږدنه چې پکښې په مازغو کښې پړسوب پیدا شی او مریض په بې خودی کښې ارټې بوټې وائی-
کوسره:(کو-سره)اسم- واحد- مؤنث- جمع کوسرې- وګورئ کوسړه-
کوسری:(کو-سری)اسم صفت- قوسری- تود سوړ شوے-
کوسری:(کو-سری)اسم- واحد جمع- مؤنث- سپکه سپانده ښځه- بې حیا بې شرمه ښځه- شرمېدلې ښځه-
کوسړه:(کو-سړه)اسم- واحد- مؤنث- پنه- کباړه- کوځړه- پېزار- جمع کوسړی-
کوسړی:(کو-سړی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ګمپېری- د چیتړی یا ګیلی کوزاروته- (۲)دَ کوسړه جمع-
کوسکے:(کو-سکے)اسم تصغیر- وړوکے کُس- کوسکے- جمع کوسکی-
کوسکے:(کوس-کے)اسم تصغیر- وګورئ کوسکے- جمع کوسکی-
کوسنګ:(کو-سنګ)اسم- په دردمند کښې پاتې شوی غنم چې په غریبانانو تقسیمولے شی-
کوسه:(کو-سه)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ کوسا-
کوسی:(کو-سی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خرابه ښځه- (۲)دَ کنځلو توره- کسی-
کوسے:(کو-سے)اسم- واحد- مؤنث- (۱)معده- پشمینه کپړه- پټو- دَ کپړی نسم- چغه- شوقه- کوسی-
کوشالے:(کو-شا-لے)اسم- واحد- مذکر- چوتړ- دَ کوناټی هډوکے- جمع کوشالی-
کوشان:(کو-شان)اسم صفت- کوشش کونکے- محنتی-
کوشت:(کوشت)اسم- واحد- مذکر- (۱)یو مرض- قبض- پېچش- (۲)دستونه- جمع کوشتونه-
کوشتوری:(کوش-تو-ری)اسم- واحد جمع- مؤنث- وړوکے ختکے-
کوشش:(کو-شش)اسم- واحد- مذکر- محنت- جدوجهد- خواری- کار- جمع کوششونه-
کوشر:(کو-شر)اسم- واحد- مذکر- پیوند- ټانکه لګونه- جوړ لګونه- ټانکه- دوه څیزونه جهلو کښې پیوندونه- جمع کوشرونه-
کوشېرول:(کو-شې-ر-ول)مصدر متعدی- (۱)پیوند لګول- ټانکه لګول- جوړول- (۲)علاج کول-
کوشېرون:(کو-شې-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ کوشرول-
کوشېرونکے:(کو-شې-ر-ون-کے)اسم فاعل- جمع کوشېرونکي- مؤنث کوشېرونکې- وګورئ کوشېرول-
کوشېرونګ:(کو-شې-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ کوشېرول-

ئ: (ئی-رل)، ئ: (ئې-ر-ول)، ی: (پیا-لی)، ے: (تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

کوشېرونه:(کو-شې-رو-وُنه)حاصلِ مصدر- وګورئ کوشېرل-

کوشېروۀ:(کو-شې-رو-وۀ)حاصلِ مصدر- وګورئ کوشېرل-

کوشېرېدل:(کو-شې-رې-دل)مصدرِ لازم- پیوند کېدل- جوړېدل- پیوندېدل-

کوشېرېدلے:(کو-شې-رې-دَلے)اسمِ مفعول- واحد- مذکر- جمع کوشېرېدلي- مؤنث کوشېرېدلې- وګورئ کوشېرېدل-

کوشېرېدن:(کو-شې-رې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ کوشېرېدل-

کوشېرېدنګ:(کو-شې-رې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ کوشېرېدل-

کوشېرېدنه:(کو-شې-رې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ کوشېرېدل-

کوشېرېدونکے:(کو-شې-رې-دُون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع کوشېرېدونکي- مونث کوشېرېدونکې- وګورئ کوشېرېدل-

کوشېرېدۀ:(کو-شې-رې-دۀ)حاصلِ مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ کوشېرېدل-

کوښار:(کو-ښار)اسمِ صفت- واحد- مذکر- دَ څپلو جوړونکے- موچي- چمیار- جمع کوښاران-

کوښت:(کوښت)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ غر مینځ کښې غار چې پېر لوئ او ژور وي- (۲)مېلنګې- جولنګې- ګادر چې پۀ شاتړلے شوے وي او ګیاه پکښې اچولے شي- مېلنتے- مېلنګے-

کوښته:(کوښ-ته)اسم- واحد- مذکر- خیابان- دَ باغ لاره-

کوښښ:(کو-ښښ)اسم- واحد- مذکر- کوشش- خواري- کړاؤ- محنت- جدوجهد- مبارزه- سعی-

کوښښي:(کوښ-ښي)اسمِ صفت- کوشش کونکے- کوشش-

کوښکه:(کو-ښکه)اسم- واحد- مؤنث- دَ کُشتۍ یو داؤ- لیکته- جمع کوښکې-

کوښل:(کو-ښل)مصدر- لیکل- کښل-

کوښلے:(کو-ښۀلے)اسمِ مفعول- جمع کوښلي- مؤنث کوښلې- وګورئ کوښل-

کوښن:(کو-ښَن)حاصلِ مصدر- وګورئ کوښل-

کوښنګ:(کو-ښَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ کوښل-

کوښه:(کو-ښه)اسم- واحد- مؤنث- دَ ښځو پېزار- پېڼه- جمع کوښې-

کوغ:(کوغ)اسمِ صفت- توږ- کُږ- کبږ- قبږ- قبے-

کوغ:(کوغ)اسمِ صوت- دَ زوړلي شوي مرې نه راوتونکے آواز-

کوغاتے:(کو-غا-تے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کوغالے-

کوغالے:(کو-غا-لے)اسم- واحد- مذکر- کوغاتے- (۱)کنده- پرغل- ورغالے- (۲)جونېرې- جونګړه- کوړله- (۳)دَ غوړو لوښه- (۴)چت- هغه مات شوے لوښے چې سهو تۀ پکښې خلق ابۀ ورکوي- پۀ یخ شوو وریژو وغیره کښې دَ غوړو یا کرنتو اچولو دَ پاره جوړ شوے ځاې- جمع کوغالي-

کوغلغل:(کو-غَل-غَل)اسمِ صوت- دَ تېوس دَ شړلو آواز- غال غال-

کوغېرن:(کو-غې-رَن)اسمِ صفت- واحد- مذکر- خیرن- چټل- پږاړ- لُغړن-

کوف:(کوف)اسمِ صوت- چف- کُف- پف-

کوفت:(کوفت)اسمِ صفت- پرېشاني- خفګان- ضرر- تکلیف- قهر- تاؤ- غضب-

کوفته:(کوفَ-ته)اسم- واحد- مؤنث- (۱)زخمي شوے- (۲)قیمه شوے- (۳)یو قسم پخګړے- جمع کوفتې-

کوفول:(کو-فَول)مصدر- پکول- پزول-

کوفون:(کو-فَون)حاصلِ مصدر- وګورئ کوفول-

کوفونکے:(کو-فَوون-کے)اسمِ فاعل- جمع کوفونکي- مؤنث کوفونکې- وګورئ کوفول-

کوفونګ:(کو-فَونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ کوفول-

کوفونه:(کو-فَ-وَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ کوفول-

کوفوۀ:(کو-فَ-وۀ)حاصلِ مصدر- وګورئ کوفول-

کوک:(کوک)اسم- واحد- مذکر- کاک- ککوړے-

کوک:(کوک)اسمِ صوت- تېز او اوږد آواز- کریکه- کریکه-

کوک:(کوک)اسم- واحد- مذکر- یو قسم پیاز- دَ غرونو پیاز- ځاګی پیاز- دَ صحرا پیاز-

کوکا:(کو-کا)اسم- واحد- مذکر- دَ ماشومانو دَ پاره استعمالېدونکے دَ مېښې توره-

کوکار:(کو-کار)اسم- فریاد- واویلا- کوکارې- ناري سورې- کریکه- کریغه- کوکاره- ژړا فریاد- پۀ زوره زوره ژړا- چغې-

کوکاره:(کو-کا-ره)اسمِ صوت- تېز او اوږد اواز- فریاد- وګورئ کوکار-

کوکانے:(کو-کا-نے)اسم- واحد- مذکر- دَ یو ستوري نوم- جمع کوکاني-

کوکب:(کو-کَب)اسم- واحد- مذکر- ځلېدونکے غټ ستورے- جمع کواکب-

کوکب دان:(کو-کب-دان)اسمِ صفت- د ستورو علم لرونکے- مُنجم- نجومي-

کوکبه:(کو-کَبه)اسم- بزرګي- شان وشوکت-

کوکنتے:(کو-کَنتے)اسم- واحد- مذکر- یوه مرغۍ چې دَ مرز نه لږه غټه وي- چها-

کوکر:(کو-کر)اسم- واحد- مذکر- چهرغت- جمع کوکران-

کوکرکے:(کو-کر-کے)اسمِ تصغیر- کوکرے- کوترے- وړوکے سپے-

کوکره:(کو-کره)اسم- واحد- مؤنث- دَ سترګو بیماري- جمع کوکرې-

کوکري:(کو-کري)اسم- دَ ملاچرګک پۀ شان یوه مرغۍ- کوکرۍ-

کوکرۍ:(کو-کرۍ)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ کوکري-

کوکرے:(کو-کرے)اسمِ تصغیر- وړوکے سپے- کوترے- جمع کوکري-

کوکړ:(کو-کړ)اسمِ صفت- (۱)وریت- لولپه- (۲)دَ مشنګو یو قسم چې دانه ئې وړه وي- (۳)ورلړونے-

کوکړۍ:(کو-کړۍ)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ قران پانه-

کوکړي:(کو-کړي)اسم- جمع- دَ لمسی حاشیه- (۲)هغه کجه پشم چې پۀ لمسی پورې ګلونه جوړولے شي-

کوکړے:(کو-کړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ککوړے- وړوکې روټۍ- (۲)پۀ

www.pukhto.net

اور سوے سکور شوے۔
کوکش:(کو-کش)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ کاکش۔ چت۔ جمع کوکشونه۔
کوکل:(کو-کل)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ هغه وابنهٔ چې اکثر پهٔ سیوری کښې زرغیږی۔
کوکله:(کو-کـله)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ کوکوپښ۔ نباتاتی نوم مکونوپسز کیمبریکا (MECONOPSIS CAMBRICA)۔
کوکله:(کو-کـله)اسم صفت۔ مړاوے شوے۔ دَ یخنی نه راغلے شوے۔
کوکنار:(کو-کـنار)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ پوپه۔ غوزه۔ پوست۔
کوکناری:(کو-کـناری)اسم۔ د کوکنار سره متعلق۔ خاش خاش۔ قاش قاش۔ دَ نباتاتی نوم دَ پاره وګورئ خاشخاش۔
کوکن:(کو-کن)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ کلړانی۔ کوکنه۔ تاروکی۔ وګورئ قران پانه۔
کوکنه:(کو-کـنه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ کوکن۔
کوکو:(کو-کو)اسم صوت۔ واحد۔ مذکر۔ دَ کوګوشتو آواز۔ دَ کورکوری آواز۔
کوکو:(کو-کو)اسم صفت۔ (۱)خوږ۔ ښائسته۔ کوکی۔ (۲)ګل۔ (۳)د ماشومانو ترياد۔ (۴)سوکړک۔ (د ماشومانو پهٔ ژبه)
کوکوبه:(کو-کو-به)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ د ګلاب عرق۔ دَ ګلابو اُبهٔ۔ جمع کوکوبې۔
کوکوبے:(کو-کو-بے)اسم۔ وګورئ کوکوبه۔
کوکوپښ:(کو-کو-پښ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ ملاچرګک۔ ملاچرګ۔ کوکله۔ ملاچرجک۔ بیوتیے۔ بیوتی۔ پهٔ سرتاج لرونکې یو قسم مرغې۔
کوکوړے:(کو-کو-ړے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ کوکړے۔ ککوړے۔ جمع کوکوړی۔
کوکه:(کو-که)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)غټ جولاګے۔ (۲)کوکاره۔ کریفه۔ ترياد۔ چغه۔ جمع کوکې۔
کوکه:(کو-که)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)یو قسم الو۔ (۲)خالی کالتوس۔ (۳)دوکانچه۔ کیبن۔ دَ دکان مخې ته چوتره۔ (۴)رضائی وروره دَ تی ورور۔
کوکه کولا:(کو-که-کو-لا)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ یو قسم شربت۔ (م۔ انګریزی)۔
کوکیالے:(کو-کـیا-لے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ ګلداره کپړه۔ ګلونه لرونکے ټوکر۔ رنګینه ټوکر۔ جمع کوکیالی۔
کوکیالے:(کو-کـیا-لے)اسم صفت۔ تر لرې لرې مشهور۔ جمع کوکیالی۔
کوکیانه:(کو-کـيا-نه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ ګلزار۔ باغ۔ جمع کوکیانې۔
کوکی:(کو-کی)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)وګورئ قران پانه۔ (۲)کوګی۔ خله۔ کوګی۔ چپی۔ ببی۔ (۳)دَ ماشومانو دَ پاره دَ مینې توری۔
کوکی:(کو-کی)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ یوه غریبګړه لوچته وَنه چې پهٔ کلکو ځایونو کښې کیږی۔
کوکے:(کو-کے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وړوکے ملک۔ جمع کوکی۔ مؤنث کوکی۔

کوګل:(کو-ګل)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ کوګل۔ دَ سینې صندوق۔ سینه۔
کوګی:(کو-ګی)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ کوکی۔
کول:(که-ول)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ زهر۔ جر۔ ګنهیر۔
کول:(کول)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)دَ یو عمر خلق۔ دَ یو خاندان خلق۔ نسل۔ ټولے۔ خاندان۔ کورنی۔ (۲)پنهوکے۔ پب۔
کول:(کول)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ پهٔ سر ودربدنه۔ سر لاندې او پښې بره کونه۔
کول:(که-ول)مصدر۔ (۱)کړل۔ یو کار مکملول۔ یو کار لهٔ آغازه تر انجامه رسول۔ (۲)قول۔ جماع کول۔
کولا:(کو-لا)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ هغه څیز چې دَ څهلی دَ جوړوېدو نه مخکښې پهٔ تلی کښې کېږ چاپېره لګولے شی۔
کولاخ:(کو-لاخ)اسم۔ لیچ۔ وازه۔ دَ دواړو لاسو دَ ورديدو تعداد۔ قلاچ۔
کولاړ:(کو-لاړ)اسم۔ دَ اُبو زور۔ دَ اُبو جوش۔
کولال:(کو-لال)اسم۔ هغه سړے چې لوښی جوړوی۔ جمع کولالان۔
کولاله:(کو-لا-له)اسم صفت۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)یو قسم مچی چې دَ خاورو لوټو نه خپل کور جوړوی۔ (۲)دَ کولال ښځه۔
کولبیت:(کول-بی-یت)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دَ کولی جوړولو سانچه۔
کولپ:(کولپ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ قُلف۔ جندره۔ تاله۔
کولپول:(کول-په-ول)مصدر۔ تاله کول۔ جندره کول۔ بندول۔
کولپون:(کول-په-ون)حاصل مصدر۔ وګورئ کولپول۔
کولپونکے:(کول-په-وون-کے)اسم فاعل۔ جمع کولپونکی۔ مؤنث کولپونکې۔ وګورئ کولپول۔
کولپونګ:(کول-په-ونګ)حاصل مصدر۔ وګورئ کولپول۔
کولپونه:(کول-په-ونه)حاصل مصدر۔ وګورئ کولپول۔
کولپوهٔ:(کول-په-وهٔ)حاصل مصدر۔ وګورئ کولپول۔
کولپی:(کول-پی)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)یو قسم وَنه۔ (۲)دَ اخبلو شویو اوړو لوښے۔ کولپی۔
کولپېدل:(کول-پې-دل)مصدر لازم۔ جندره کېدل۔ بندېدل۔ قلفېدل۔
کولپېدن:(کول-پې-دن)حاصل مصدر۔ وګورئ کولپېدل۔
کولپېدنګ:(کول-پې-دنګ)حاصل مصدر۔ وګورئ کولپېدل۔
کولپېدنه:(کول-پې-دنه)حاصل مصدر۔ وګورئ کولپېدل۔
کولپېدونکے:(کول-پې-دون-کے)اسم فاعل۔ جمع کولپېدونکی۔ مؤنث کولپېدونکې۔ وګورئ کولپېدل۔
کولپېدهٔ:(کول-پې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه۔ وګورئ کولپېدل۔
کولپی:(کول-پی)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ کلپی۔ کاشین۔ خمیره دان۔ خمبیره دان۔ د اخبلو شویو اُوړو لوښے۔ دَ خمیرې ساتلو لوښے۔ (م۔ قلفی)۔
کولک:(کو-لک)اسم۔ دَ چت موری۔ پهٔ کوټه کښې دَ چت هغه موری چې رڼا پکښې راځی۔ موری۔ روزان۔ روزن۔ جمع کولکونه۔

www.pukhto.net

کولک:(کو-لک)اسم- د سترګو حلقه- جمع کولکونه-

کولمه:(کول-مه)اسم- واحد- مؤنث- د ګېډې دننه يو عضو-

کولمه سرے:(کول-مه-سه-رے)اسم- واحد- مذکر- تس خورے- پمچش- (افغانستان)-

کولنډ:(کو-لنډ)اسم- واحد- مذکر- کولنډے- هغه لرګے چې خناررو ته په دې غرض اچولے شي چې منډه نهٔ وهي- پنډې- دَ سپي دَ غاړې لرګے- ارم-

کولنډے:(کو-لن-ډے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کولنډ-

کولنګ:(کو-لنګ)اسم- واحد- مذکر- پېنګ- يو مارغهٔ-

کولنګی:(کو-لنګ-ګی)اسم- واحد- مذکر- اصيل چرګ- جنګی چرګ- جمع کولنګيان-

کولول:(کو-له-وَل)مصدر- (۱)رغړول- ګړول- (۲)تراشل- توږل-

کولون:(کو-له-وَن)حاصل مصدر- وګورئ کولول-

کولونکے:(کو-له-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع کولونکي- مؤنث کولونکې- وګورئ کولول-

کولونګ:(کو-له-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ کولول-

کولونه:(کو-له-وه-نه)حاصل مصدر- وګورئ کولول-

کولوهٔ:(کو-له-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ کولول-

کوله:(کو-له)اسم- واحد- مؤنث- دَ غوبل په وخت کښې دَ غوايانو پښو ته کېدې پرانستنه- جمع کولې-

کوله:(کو-له)اسم صوت- روړه- دَ سپي دَ ژړا په وخت اورېده چغه- دولی- غړانګه- جمع کولې-

کوله:(کو-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کلاه- دَ سر پټکے- پټکے- (۲)بې چته کوټه-

کوله:(کو-له)اسم- مؤنث- يوه کاني ماده چې دَ تور کاڼي په شکل کښې دَ درنګونو نه حاصلولے شي او دَ سوزولو دَ پاره پکارولے شي- دَ لرګی سوی پکړې- کوبله- کوبله-

کوله بوله:(کو-له-بو-له)اسم مرکب- مذکر- خواری خمکی- هغه دغه- اُور اَبهٔ يو ځای کونه- دَ غمخواری او خوا خوږی يو کلمه-

کوليار:(کول-يار)اسم- واحد- مؤنث- کوه ليار- کوه لار- په غرهٔ کښې تنګه لاره-

کوليار:(کول-يار)اسم- واحد- مذکر- کچنال- يوه غرنيره ونه-

کولير:(کول-ير)اسم- واحد- مذکر- (۱)زنار- طوق- (۲)بند- کولنډ- کولنډے-

کوليفه:(کو-لی-فه)اسم- واحد- مؤنث- د سوزېدو مواد-

کولېدل:(کو-لې-دَل)مصدر لازم- رغړېدل- ګړېدل-

کولېدن:(کو-لې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ کولېدل-

کولېدنګ:(کو-لې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ کولېدل-

کولېدنه:(کو-لې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ کولېدل-

کولېدونکے:(کو-لې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع کولېدونکي- مؤنث کولېدونکې- وګورئ کولېدل-

کولېدهٔ:(کو-لې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ کولېدل-

کولے:(کو-لے)اسم- واحد- مذکر- کندو- دَ غلې دَ سمبالولو کندو- خمبه- کولی- جمع کولی/کوليان-

کولے:(کو-لے)اسم- واحد- مذکر- کورے- جالے- (۲)پک- کنجے- پرمک-

کولی:(کو-لی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ کولے ۱-

کوم:(کوم)ضمير شخصی- ضمير موصوله- استفهامی ضمير-

کوماچ:(کو-ماچ)اسم- واحد- مذکر- (۱)پتيره ړوړی- (۲)په تنور کښې پربوتې ړوړی- کسکر شوی روټی-

کوماچ:(کو-ماچ)اسم- لهٔ وريژو پخه شوې روټی-

کوماله:(کو-ما-له)اسم- واحد- مؤنث- يو خوش خونده غرنے بوټے- جمع کومالې-

کومبار:(کوم-بار)اسم- واحد- مذکر- کولال- کُلال- جمع کومباران-

کومبېر:(کوم-بېر)اسم- واحد- مذکر- کومبر- (۱)زخم- لوی زخم- ټپ- (۲)دَ حامو لوی سورے- جمع کومبرونه-

کومره:(کوم-ره)اسم- پېره اوبی-

کومبر:(کو-مبر)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کومبېر-

کومری:(کوم-ری)اسم- واحد- مؤنث- يو ازغن بوټے-

کومک:(کو-مک)اسم- امداد- مدد- حمايت- طرفداری- مرسته- ملاتړ- پاړ- جمع کومکونه-

کوم کجا:(کوم-کَ-جا)اسم- ځول- بل کوم ځول-

کومکی:(کو-مه-کی)اسم- واحد- مؤنث- کرکوره- کوړکوړی- ګوګړی- کرکوشکه-

کومل:(کو-مل)مصدر- اېل- اورهٔ کول- مېده کول-

کومن:(کو-مَن)حاصل مصدر- وګورئ کومل-

کومنه:(کو-مهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ کومل-

کومن:(کو-من)اسم صفت- کرمن- قرمېزن- مړاوے- غلے- په خود-

کومنول:(کو-مهٔ-نه-وَل)مصدر- (۱)مړاوے کول- کړول- غمول- (۲)غلے کول- ارامول-

کومنون:(کو-مه-نه-وَن)حاصل مصدر- وګورئ کومنول-

کومنونکے:(کو-مه-نه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع کومنونکي- مؤنث کومنونکې- وګورئ کومنول-

کومنونګ:(کو-مه-نه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ کومنول-

کومنونه:(کو-مه-نه-وهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ کومنول-

کومنېدل:(کو-مهٔ-نې-دَل)مصدر لازم- (۱)مړاوېدل- کړېدل- نولېدل- غمېدل- مړاوے کېدل- (۲)غلے کېدل- ارامېدل-

کومښېدن:(کُو-مښې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ کومښېدل-

کومښېدنګ:(کُو-مښې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ کومښېدل-

کومښېدنه:(کو-مښې-دَنه)حاصلِ مصدر- وګورئ کومښېدل-

کومښېدونکے:(کُو-مښې-دُون-کے)اسمِ فاعل- جمع کومښېدونکي- مؤنث کومښېدونکې- وګورئ کومښېدل-

کومښېدهٔ:(کُو-مښې-دهٔ)حاصلِ مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ کومښېدل-

کومول:(کو-مُول)اسم- واحد- مذکر- لګ لګ- يو قسم چرګ- کمول- چغتے- پېنګ-

کومه:(کو-مه)اسم- واحد- مذکر-(۱)زور ځيز- (۲)زوروالے- (۳- ضمير)چرته نه- (۴)د اوښ په ملا کښې راوتلے ځائ-کُب-

کومه:(کو-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د ګيټکو لوبه- د کاڼو لوبه- (۲)ميرګاټي- (۳)چاره-

کومي:(کو-مي)اسم- واحد- مؤنث- خادمې- يوه خزنده-

کومے:(کو-مے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ستونے- د تالو اخري حصه- (۲)د تنري مينځ چې سکاره پکښې جمع وي-

کون:(کُون)حاصلِ مصدر- وګورئ کول-

کون:(کون)اسم- واحد- مذکر- وجود- هستي-

کوناټ:(کو-ناټ)اسم- واحد- مذکر- غټه کُنه- غټ غټ کُناټي-

کوناټور:(کو-نا-ټه-ور)اسم صفت- واحد/جمع- مذکر- غټ غټ کناټي لرونکے- جمع کوناټوران- مؤنث کوناټوره-

کوناټے:(کو-نا-ټے)اسم- واحد- مذکر- د کُنې يو خوا بل خوا برحه- جمع کوناټي-

کونارے:(کو-نا-رے)اسم- واحد- مذکر- قصاب- جمع کوناري-

کوناړے:(کو-نا-ړے)اسم- واحد- مذکر- سخت کافر- ظالم- کوناړي-

کوناستي:(کو-ناس-تي)اسم- (۱)د ماشومانو ځوکي- (۲)د ماشومانو په وړومبي ځل کښېناستنه-

کوناغ:(کو-ناغ)اسم- پخکړے- لاړې- انګولے- نکولے- کتنغ- پوروړنے- لمدبل- لندمل-

کونتر:(کُون-تَر)اسم- واحد- مذکر- مختلف قسمونه لرونکے يو قسم مارغهٔ چې په کورونو کښې ساتلے شي- کوتر-

کونترباز:(کون-تَر-باز)اسم- واحد- مُذکر- کونترې ساتونکے- کوترباز- جمع کونتربازان-

کونتره:(کُون-تمره)اسم- واحد- مؤنث- د کونتر مؤنث وګورئ کونتر- جمع کونترې-

کونتي:(کونَ-تي)اسم صفت- کوږ- يو طرفته کوږ شوے- تاڼ شوے- کونتي-

کونتيل:(کون-تيل)اسم- واحد- مذکر- ټوټيل- ټوند ټوند- جفرې- رامات- خميده- سرخوړند-

کونتي:(کونَ-تي)اسم صفت- وګورئ کونتي-

کونټي:(کون-ټي)اسم- واحد/جمع- مؤنث- چوکه- د ګرخولو مڼه لرګے چې موټي لري-

کونج:(کونج)اسم- واحد- مذکر- ګټ- طرف- کُنج-

کونجاره:(کون-جا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- جمامه- جميا- تاراميرا- نباتاتي نوم د پاره وګورئ جمامه-

کونجاړه:(کون-جا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کل- خنجاړه- کنجاړه- (۲)د شوخۍ روټۍ-

کونجک دار:(کونَ-جَک-دار)اسم صفت- (۱)برګ بروګ- (۲)د مار يو قسم- جمع کونجکداران-

کونجکه:(کون-جَک-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ادبلمه- ډېر لږ مقدار- (۲)کوچے- د غنو ابي خنازرو بهرنے پوستکے- جمع کونجکې-

کونجلنے:(کونج-له-نے)اسم صفت- کنجلک شوے- د يخنۍ د لاسه غټ مټ شوے- مراوے شوے-

کونجي:(کونَ-جي)اسم- (۱)راغبه- (۲)کوزه- کوزړی- خمرې-

کونجي:(کونَ-جي)اسم- واحد- مؤنث- کُنجي- چابي- د جندرې لرې کولو چابي- جمع کونجياني- (م- هندي کنجي)-

کونجي:(کونَ-جي)اسم- واحد- مؤنث- ګنجي- کونجي- د سپنسو يا تاررنو اته-

کونجے:(کُونَ-جے)اسم- واحد- مذکر- ډېر بوډا- ډېر زوړ- (۲)د غرونو يوه سبزي- جمع کونجي-

کونخل:(کونَ-خل)اسم- يو حکيمي دارو- (۲)کونخله-

کونخله:(کونَ-خَه-له)اسم- واحد- مؤنث- کنځله- د نباتاتي نوم د پاره وګورئ کنځله-

کونخی:(کُونَ-خی)اسم- وربل- اوربل- د ښځوکي وېښته-

کونځر:(کونَ-ځُر)اسم- واحد- مذکر- د مرغۍ وزر- جمع کونځرونه-

کونځی:(کونَ-ځی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- کوڅی- کمڅی- زلفان- زلفې-

کون خر:(کونَ-خَر)اسم صفت- (۱)خر- کم عقل- (۲)بې تميزه- د خر کُه-

کونداغ:(کونَ-داغ)اسم- واحد- مذکر- د ټوپک هغه حصه چې سرے ئې په لاس کښې نيسي- کنداغ-

کونداغه:(کون-دا-غه)اسم- واحد- مذکر- چکور- يو مارغه- سائنسي نوم الېکټوريېس ګرېکا (ALECTORIS GRAECA)-

کوندروزے:(کوند-رو-زے)اسم- واحد- مذکر- (۱)سور مرچ- نباتاتي نوم کېپسيکم فروټي سنز (CAPSICUM FRUTESCENS)- (۲)يو قسم بيماري چې سرے پکښې ډېر ورږے کيږي- جمع کوندروزي-

کوندروکے:(کوند-رو-کے)اسم تصغير- واحد- مذکر- وړوکے دسترخوان- جمع کوندروکي-

کوندرپېل:(کوند-رې-پل)مصدر- ختې کنستل-

www.pukhto.net

کوندری:(کوند-ري)اسم- واحد- مؤنث- پوځل- کنده-
کوندرے:(کوند-رے)اسم- واحد- مذکر- زورتیا- ژوره- کنده- پوله- پت- ژور- غالے- قوتے- ژوره غوچانی- (۲)وګورئ سمنګے-
کوندرے:(کوند-ډرے)اسم- واحد- مذکر- چاړ- غلبېل- پېرروزے- جمع کوندری-
کوندرے:(کوند-رے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دسترخوان- دستارخان- دَ ډوډۍ دَ خوراک دَ پاره مخصوص ټوکے- (۲)ټوپکے- (۳)وګورئ چرووه-
کونده:(کون-ده)اسم- وګورئ کوندۀ-
کوندۀ:(کون-دۀ)اسم- واحد- مؤنث- د یوې هغه حصه چې سمهار پکښې لګېدلے وی او زمکه کښې پوبه روانه وی- کندۀ- کنده-
کوندی:(کون-دی)اسم- واحد- مذکر- بندیوان- قېدی- چې پۀ زندان کښې وی-
کوندے:(کون-دے)اسم- واحد- مذکر- (۱)سرتروټے- تاؤ راتاؤ هغه پړے چې دَ غوېدی خلۀ پری تړی- (۲)ګدی- کېدے شی- ممکنه ده-
کونړ:(کونړ)اسم- واحد- مذکر- هغه سړے چې ښځه يې مړه شوې وی- کُنډ-
کونړ:(کونړ)اسم- حبس کېدنه- د ښخو جامې کېدنه-
کونړا:(کون-ړا)اسم- واحد- مذکر- د خاوری جوړ شوے غټ ښانک- تمار- تغاره-
کونړال:(کون-ړال)اسم- واحد- مذکر- خزانه- کوت-
کونړتوب:(کونړ-توب)اسم- واحد- مذکر- کونړتون- کنتون- دَ کونړې ښځې بل خاوند نۀ کونه او د خپل ورومبنی خاوند پۀ پت کښې عمر تېروونه- کنډتوب-
کونړتون:(کونړ-تون)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کونړتوب-
کونړرے:(کونړ-رے)اسم- واحد- مذکر- (۱)کبړ- (۲)کمر کین- جمع کونړری-
کونړغالے:(کونړ-غالے)اسم- واحد- مذکر- کورنده- تنګ او تیارۀ کور- دَ کړو دَ ساتلو پۀ غره کښې خاص ځاې- جمع کونړغالی-
کونړلی:(کونړ-لي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)غوت- تالے- چینی لوښے- دَ ترکاری لوښے- (۲)اکاړۀ ازغی لرونکې یو قسم بوټے- مارکونړی- کونړی- کوهړ-
کونړول:(کون-ړ-ول)مصدر- پۀ ښځې کښې پۀ اول ځل شولې ټکول-
کونړون:(کون-ړه-ون)حاصل مصدر- وګورئ کونړول-
کونړونکے:(کون-ړه-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع کونړونکی- مؤنث- کونړونکې- وګورئ کونړول-
کونړونګ:(کون-ړه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ کونړول-
کونړونه:(کون-ړه-ونه)حاصل مصدر- وګورئ کونړول-
کونړه:(کون-ړه)اسم- واحد- مؤنث- هغه ښځه چې خاوند يې مړ شوے وی- کُنډه-
کونړۀ:(کون-ړۀ)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ چمیاری یو اوزار چې دَ ګنډلو دَ پاره پکار راځی- (۲)راکړه- کوړ- (۳)حلقه- الغه- (۴)کنجک- خنجک- دَ کسانو نیولو آله-
کونړېدل:(کون-ړې-دل)مصدر لازم- دَ ښځې خاوند مړ کېدل- دَ خاوند ښځه مره کېدل- کُنړېدل-
کونړېدن:(کون-ړې-دن)حاصل مصدر- وګورئ کونړېدل-
کونړېدنګ:(کون-ړې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ کونړېدل-
کونړېدنه:(کون-ړې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ کونړېدل-
کونړېدونکے:(کون-ړې-دون-کے)اسم فاعل- جمع کونړېدونکی- مؤنث کونړېدونکې- وګورئ کونړېدل-
کونړېدۀ:(کون-ړې-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ کونړېدل-
کونړېزن:(کون-ړې-زن)اسم- کنډتون- کوښتون-
کونړېل:(کون-ړېل)اسم- کُنډول- کُنډال- کونال-
کونړی:(کون-ړی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)یو قسم ساګ- (۲)دَ کیکر ونه- (۳)لرګینه کاسه- کنډول- کنډولے- کچکول- (۴)دَ غلې پیمانه کولو آله- هغه د لرګی نه جوړه کاسه چې ګوجرې پرې شوملې یا پئ پیمانه کوی- کونړے- (۵)وګورئ کونړلی- (۶)دَ لاس یو پسول- (۷)دَ کوناتی دَ پاسه هډوکے- د ورون او کوناتی تر منځه هډوکے-
کونړی کول:(کون-ړی-کول)مصدر متعدی- (۱)تاوول- پېچل- کوندی کول- (۲)کړشې کول-
کونړے:(کون-ړے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کونړی-
کونړے:(کون-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)وروکے قد- (۲)هغه ځناور چې ښکرونه يې مات شوی وی- (۳)هغه سړے چې مقابله يې بائیلودې وی- (۴)هغه ونه چې ښاخونه يې پرېکړے شوی وی-
کونری:(کون-ري)اسم- واحد- مؤنث- پینه- کونړی- کاسه-
کونسټ:(کون-سټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)پۀ ایره خول پخه شوې روټې- (۲)بنیاد- بنسټ- کنسټ- کنسټه- دَ ونې وېخ- (۳)شل- ګو- پۀ ځاې ناست-
کونسټه:(کون-سټه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ کونسټ-
کونکوری:(کُون-کو-ري)اسم- واحد- مؤنث- دَ لرګی وړه شان پیالی چې پۀ پنجره کښې پرته وی او مارغانو ته پکښې اُبۀ اچوی-
کونکے:(کُ-رون-کے)اسم فاعل- جمع کونکی- مؤنث کونکې- وګورئ کول-
کونکے:(کون-کے)اسم تصغیر- واحد- مذکر- کمکے- کشر- ورکوټے- وړوکے- جمع کونکی-
کونګ:(کونګ)اسم- واحد- مذکر- بُوم- چغد- الو- کونګے- کونګ- یو قسم مارغۀ-
کونګ:(کو-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ کول-
کونګار:(کُونګ-ګار)اسم صوت- دَ وطو پۀ وخت دَ سپی چغې- کوېدنه- چوار-

www.pukhto.net

کونګج:(کُونګ-ګج)اسم- دَ آواز بازګشت- کونجدار- دَ آواز عکس-

کونګره:(کونګ-ګه-ره)اسم- واحد- مؤنث- پهٔ ژمّی کښې دَ اُبو پهٔ مخ یخبسته پټرے- (۲)دَ حفاظت دیوال- مُناره- دریچه- دَ دیوال یا د غر اوچته حصه- جمع کونګرکی-

کونګره:(کونګ-ره)اسم- واحد- مؤنث- کوکرې- دَ سترګو یوه بیماری-

کونګرکے:(کونګ-ګر-کے)اسم- واحد- مذکر- مونډری- والی- پیری- پیڼی- کونګرے- پنډی- کونګری- جمع کونګرکی-

کونګری:(کونګ-ری)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ کونګرکے-

کونګرے:(کون-ګه-رے)اسم- وګورئ کونګرکے-

کونګوټی:(کون-ګو-ټی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)اعتراض کونه- (۲)مسخری کونه-

کونګور:(کونګ-ګور)اسم- واحد- مذکر- کمکو- زعفران- نباتاتی نوم د پاره وګورئ زعفران-

کونګه:(کونګ-ګه)اسم صفت- بې تابه- ناقراره- جمع کونګې-

کونلي:(کو-ن-لي)اسم- واحد- مذکر- تتنی- تت کبډی- کت کبډی- دَ ملکانو دَ کبډی یوه لوبه-

کونوی:(کو-ن-وی)اسم- ختیل- خوم-

کونه:(کُـو-ڼـه)حاصلِ مصدر- وګورئ کول-

کونه:(کو-ـنه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)سوپره- ښیر- مقعد- (۲)لاندې ویخ- دَ مرخیز لاندې حصه- کُنه-

کونه سوے:(کو-نه-سهٔ-وے)اسم صفت- نیم سوځېدلے- هغه ټکرے چې لاندې حصه یې وسوځي- جمع کونه سوی-

کونه غرے:(کو-نه-غـه-رے)اسم- واحد- مذکر- دَ کنې هډوکے- جمع کونه غری-

کونه ګټه:(کو-نه-ګـ-ته)اسم- واحد- مؤنث- هیله باته کونه- انکار کونه- کُنه ګُټه-

کونه ورزے:(کو-نه-ور-زے)اسم- واحد- مؤنث- ایت کونتوب- پونګالی- واګی- کونی- کونه ورکونکے-

کونی:(کو-نی)اسم صفت- واحد- مذکر- کُنی- کُنه ورکونکے- (۲)بې شرمه- بې حیا- بې غیرته- دوس- جمع کونیان-

کونی:(کو-نی)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ غوږونو دَ سوری اُخری سر چې تر مغزو رسېدلے وی- (۲)کونه- هغه دائره چې لوبغاړی ېکښې ولاړ وی-

کونی چاچړ:(کو-نی-چا-چړ)اسم- واحد- مذکر- کونی کبر- دَ اُبو یو زنده سرے چې دَ چیندخ پهٔ شان وی- پهٔ دوایی کښې هم پکارېږی- چینګاخ- بروړا- اقرب- عقرب- کونی کاټر-

کونیلے:(کُو-نی-لے)اسم- واحد- مذکر- منجیله- هغه رلتاؤ کړے شوی ټوکره چې زنانه یې دَ سر دَ پاسه دَ منګی دَ لاندې ږدی-

کونیز:(کو-نیز)اسم- واحد- مذکر- دَ یو ټوپک نوم- یو قسم ټوپک-

کونی کاټر:(کو-نی-کا-ټر)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کونی چاچړ-

کونے:(کو-نے)اسم- واحد- مذکر- یو چینجے چې ګاروړ پورې نښلی-

کوڼ:(کُوڼ)اسم صفت- (۱)چې پهٔ غوږونو څهٔ اورېدے نهٔ شی- (۲)پهٔ پوزه کوڼ- هغه څوک چې بوئ نهٔ شی محسوسولے- (۲)وګورئ کوڼے-

کوڼ:(کُوڼ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کوڼے-

کوڼ:(کوڼ)اسم- واحد- مذکر- (۱)یو قسم بوټے-

کوڼا:(کُو-ڼا)اسم صفت- کوڼ- نهٔ اورېدونکے-

کوڼتوب:(کوڼ-توب)اسم- کوڼوالے- کوڼتیا- پهٔ غوږونو دروندوالے-

کوڼتیا (کوڼ-تیا)اسم- کوڼتوب-

کوڼکی (کُوڼ-کی)اسم- کړکی- کنکی- دری-

کوڼوالے:(کُوڼ-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کوڼتوب-

کوڼخه:(کو-ڼـه-خه)اسم- هغه تږی چې عورونه پکښې پټېږی- جمع کوڼخې-

کوڼی:(کُو-ڼی)اسم- واحد- مؤنث- کونډی- دَ زنګانهٔ سترګه- کوڼی- ګُنځې-

کوڼیک:(کو-ڼیک)اسم- واحد- مذکر- کتمل- منګن- خسک- منګوړه-

کوڼېدل:(کُو-ڼې-دل)مصدر- کڼېدل- پهٔ غوږونو کښې دروندوالے او نقصان راتلل- صبخ نهٔ اورېدل-

کوڼېدن:(کُو-ڼې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ کوڼېدل-

کوڼېدنګ:(کُو-ڼې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ کوڼېدل-

کوڼېدنه:(کُو-ڼې-دنه)حاصلِ مصدر- وګورئ کوڼېدل-

کوڼېدونکے:(کُو-ڼې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع کوڼېدونکی- مؤنث کوڼېدونکې- وګورئ کوڼېدل-

کوڼېدهٔ:(کُو-ڼې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ کوڼېدل-

کوڼی:(کُو-ڼی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ کوڼی-

کوڼی:(کُو-ڼی)اسم- واحد- مؤنث- کوډله- جونګړه- دَ غریبی کور-

کوڼے:(کو-ڼے)اسم- واحد- مذکر- ول- کوت- جول- تاؤ- کړلیچ- دَ کپړې کوڼ- شکن- جمع کوڼی-

کوواوې:(کو-وا-وې)اسم صفت- سخته زمکه- کلکه زمکه-

کووټله:(کو-ووټ-له)اسم- واحد- مذکر- برېوکی- برېوکی- جمع کووټلې-

کووکے:(که-وو-کے)اسم- واحد- مذکر- کف ګیر- کپ ګیر- جمع کووکی-

کوه:(کوهٔ)اسم- واحد- مذکر- (۱)غر- غرڅ- (۲)دوه غاښے لرګے چې پهٔ سر کښې د پېرې رانیکلو دپاره پېری ترلی شوی وی- (م- فارسی)-

کوهٔ:(کمه-وهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ کول-

کوهل:(کو-هل)اسم- رانجهٔ- سرمه- کجل-

کوهند:(کو-هند)اسم صفت- زوړ- پخوانے- بوڅ- کلک- سخت-

کومیل:(کو-میل)اسم- واحد- مذکر- کومیله- کویله- یو خوږ اوازه مرغی- بانګ لکی- توره ترکی-

کومیله:(کو-مي-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ کومیل-

ی" (غی-رل)، ې"(هې-ره-وړل)، ی"(هیا-لي)، ے"(تن-دوے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

کومے:(کُو-مے)اسم- واحد- مذکر- کونے- (۱)کنده ژوره کنده- (۲)قبر- چاه- هغه ژوره کنده چې اُبو راوېستلو دپاره پکاروله شي- څاه-

کوی:(کـوی)اسم- (۱)چیچک- (۲)خارښ- کهه-

کونبدل:(کو-یُ-دَل)مصدر- ژړا انګولا کول- چغ چوغ کول- شور وغوغا کول-

کونبدن:(کو-یُ-دَن)حاصل مصدر- وګورئ کونبدل-

کونبدنګ:(کو-یُ-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ کونبدل-

کونبدنه:(کو-ی-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ کونبدل-

کونبدونکے:(کو-ی-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ کونبدل-

کونبدهٔ:(کو-ی-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری دْ واحد غائب صیغه- وګورئ کونبدل-

کوبتے:(کوی-تے)اسم- واحد- مذکر- پهٔ لیدهٔ کښې د چمړې هغه ټوکره چې کاپے پکښې اسولے شي- پټاخ-

کویږده:(کویږ-ده)اسم- کوږدن- کوبدن- کوږده- نیوکه- جمع کویږدې-

کویستے:(کویس-تے)اسم- واحد- مذکر- چپټاخ- دْ لیدې پټاخ- کوبوبے- کوبتے- جمع کویستی-

کوبشت:(کویشت)اسم- واحد- مذکر- کورست- کوسته- یوه بیماری-

کوبش:(کوبش)اسم- واحد- مذکر- تحریر کونه- لیکنه-

کوبښل:(کوی-ښل)مصدر- تحریر کول- لیکل-

کوبښلے:(کُوی-ښهٔ-لے)اسم مفعول- جمع کوبښلی- مؤنث کوبښلې- وګورئ کوبښل-

کوبښن:(کوی-ښن)حاصل مصدر- وګورئ کوبښل-

کوبښنګ:(کُوی-ښنګ)حاصل مصدر- وګورئ کوبښل-

کوبښنه:(کوی-ښهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ کوبښل-

کوبښونکے:(کوی-ښون-کے)اسم فاعل- جمع کوبښونکی- مؤنث کوبښونکې- وګورئ کوبښل-

کوبښهٔ:(کُوی-ښهٔ)حاصل مصدر- وګورئ کوبښل-

کویل:(کوی-یل)مصدر- کنل- تورل-

کوبلاغه:(کوی-لا-غه)اسم صفت- وریت شوے- وریت- وریتل-

کوبله:(کو-ی-له)اسم- واحد- مؤنث- یوه خور آوازه مرغۍ-

کویله:(کُوی-له)اسم- مؤنث- وګورئ کوله ۴-

کوبلے:(کُوی-لے)اسم- واحد- مذکر- فریاد- ژړا- کوبنے- جمع کوبلی-

کوبنے:(کُوی-نے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کوبلے-

کوبته:(کُوی-ته)اسم- واحد- مؤنث- پیتے- مار-

کوبتے:(کوی-تے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کوبستے-

کوبړی:(کوی-ړی)اسم- واحد- مذکر- چورچورک- یوه وړه حشره-

کوی:(کـوی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کشتی- تخته- کښتی- (۲)تـسکوره- سکوره- کدالـه- کدالی- (۳)کینتی- کینتری-

کوے:(کوے)اسم- واحد- مذکر- کنیے- د باغونو څوکیدار- جمع کوی-

که:(که)حرف شرط- غیر یقینی- دْ شک-

کهار:(کـهار)اسم- واحد- مذکر- سُر تور شان اُس چې کیتې یې توری وی-

کهار:(که-هار)اسم- واحد- مذکر- (۱)بولی وړونکے- پیتیارے- بیتیارے- (۲)سکان- سکن- توربخن- غم رنګے- جمع کهاران-

کهاره:(که-ها-ره)اسم- واحد- مؤنث- ټوکره- ټوکری- غټه ټوکره-

کهاړه:(که-ها-ړه)اسم- واحد- مؤنث- منجیله- کونبځے- بعورے-

کهاړه:(که-ها-ړه)اسم- واحد- مؤنث- نښه- نښانه- نښان- نښکه-

کهال:(که-هال)اسم صفت- مذکر- سست- کاهل- کمزورے- مؤنث کهاله-

کهالول:(که-ها-له-ول)مصدر- کمزورے کول- طاقت کښې کمول-

کهالون:(که-ها-له-ون)حاصل مصدر- وګورئ کهالول-

کهالونکے:(که-ها-له-وون-کے)اسم فاعل- جمع کهالونکی- مؤنث کهالونکې- وګورئ کهالول-

کهالونګ:(که-ها-له-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ کهالول-

کهالونه:(که-ها-له-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ کهالول-

کهالوهٔ:(که-ها-له-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ کهالول-

کهاله:(که-ها-له)اسم صفت- سست- کاهل- کهال-

کهالی:(که-ها-لی)اسم- واحد- مؤنث- سستی- ستړے کېدنه- کاهلی-

کهالېدل:(که-ها-لې-دَل)مصدر لازم- ستړے کېدل- طاقت کمېدل- کاهله کېدل-

کهالېدن:(که-ها-لې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ کهالېدل-

کهالېدنګ:(که-ها-لې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ کهالېدل-

کهالېدنه:(که-ها-لې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ کهالېدل-

کهالېدونکے:(که-ها-لې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع کهالېدونکی- مؤنث کهالېدونکې- وګورئ کهالېدل-

کهالېدهٔ:(که-ها-لې-دهٔ)حاصل مصدر او دْ ماضی استمراری دْ واحد غائب صیغه- وګورئ کهالېدل-

کهتر:(که-تر)اسم صفت- وړوکے- دْ کمې درجې- ادنٰی- غریب- خاکسار- کمتر- (م- فارسی)-

کهترین:(که-تـرین)اسم صفت- ادنٰی ترین- غریب ترین- (م- فارسی)-

کهښت:(کهښت/که-ښت)اسم- خارښت- خارښ-

کهکشان:(که-که-شان)اسم- واحد- مذکر- اسمان لاره- لهٔ ستوریو جوړه شوې اسمان لاره-

کهند:(کـهند)صفت- زوړ- پخوانے-

کهنډ:(کهنډ)اسم- کنډ- چیر-

کهنه:(که-نه)اسم صفت- (۱)زوړ- د زوړ زمانې- پخوانے- (۲)تجربه کار-

کهه:(که-هه)اسم- واحد- مؤنث- کهښت- (۱)خارښت- خارښ- (۲)قے- باکی- باقی- جمع کهې-

کهی چوتی:(کـهی-چو-تی)اسم- خلاصونه-

www.pukhto.net

کهین:(که-هین)اسم صفت- (۱)کمتر- کهتر- کهترین- (۲)پبل- پنډ- (۳)د کرکي وړ-

کهېدل:(ک-هي-دل)مصدر لازم- وراتېدل- زړهٔ بد بد کېدل- زړهٔ چینجېدل- خوا بدېدل- ورو ورو کمزورے کېدل- زمیرېدل- ضعیف کېدل-

کهېدن:(که-هي-دن)حاصل مصدر- وګورئ کهېدل-

کهېدنګ:(که-هي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ کهېدل-

کهېدونکے:(که-هي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع کهېدونکي- مؤنث کهېدونکې- وګورئ کهېدل-

کهېدنه:(که-هي-دنه)حاصل مصدر- وګورئ کهېدل-

کهېدهٔ:(که-هي-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ کهېدل-

کهي:(که-هي)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)هغه د پلنې خلې لرونکي سکوره چې خټه پرې جوړولے شي-

کهے:(که-هے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)ننګر- خوار- بې غوښو- لغړ- (۲- اسم)خندق- (۲)د میزرې بوټے- سکره-

کی:(کی)اسم- واحد- مؤنث- کلی-

کیاڅه:(کیا-څه)صفت- مړاوے- زمول- شوته-

کیاره:(کیا-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ کیارې-

کیارې:(کیا-رې)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کیاره- دَ زمکې یوه حصه چې پکښې سبزي کرلے شي- (۲)پټے- زمکه-

کیازه:(کیا-زه)اسم- واحد- مؤنث- دَ انسان یا حیوان دَ خلې لاړې- توکاڼې- لعاب-

کیال:(ک-یال)اسم- واحد- مذکر- تول کونکے- اندازه کونکے-

کیته:(کي-ته)اسم صفت- واحد- مؤنث- واړه- خلاصه- ویته-

کیته خله:(کي-ته-خله)اسم- واحد- مؤنث- واړه خُله- ویته خله- جمع کیتې خلې-

کیبکی:(کیب-کی)اسم تصغیر- زرکوبے عندی خانې چې خلق پکښې عدبرې-

کیټه:(کي-ټه)اسم صفت- (۱)ځاګی- (۲)تیار شوے- غوبل شوے-

کیچټ:(کی-چټ)اسم صفت- خراب- ګنده-

کیچړې:(کیچ-ړې)اسم- جمع- مؤنث- کیچړې- (۱)نرمې یخې شړې وریژې- (۲)خټې- چکړې- چترې-

کیچړے:(کیچ-ړے)اسم- واحد- مذکر- د غوا غوړې- کهیر- کیر- کچړے-

کیچے:(کی-چے)اسم صفت- واحد- مذکر- وړوکے- ورکوټے- کمکے-

کیڅی:(کی-څی)اسم- واحد- مؤنث- کېسه- کڅوړه-

کیخ:(کیخ)اسم- واحد- مذکر- وړوکے سپین رنګے چینجے چې د ماشومانو په لویو بولو کښې کېږي- کیخه- کیخے- وګورئ کیخے-

کیخکه:(کی-خه-که)اسم- واحد- مؤنث- په هندوانو کښې اخري پخه شوې هندوانه چې یو اړخ ئې خراب او تور وي- کوشتوړے-

کیخه:(کي-خه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وګورئ کیخ- (۲)خړونکے غوماشه- خوماشے-

کیخے:(کي-خے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کیخ-

کیر:(کیر)اسم- واحد- مذکر- د وریژو خوړو او پیو پخه کړے شوې لېټې-

کیراړ:(کی-راړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)هندو- (۲)ټګ- دوکه باز- ټګی ژن-

کیرانه:(کی-را-نه)اسم- مؤنث- کریانه- پرچون مال-

کیرړے:(کیر-ړے)اسم- واحد- مذکر- کیرړه- کرړے- یوه حشره- جمع کیرړي-

کیرکیرک:(کیر-کی-رک)اسم- واحد- مذکر- دَ شین رنګ یوه مرغۍ- ماهی خورک-

کیرندی:(کی-رن-دی)اسم- واحد جمع- مؤنث- د مرزانو دَ رابللو تفچه- تبیچه- غنکے- کیرکیرے- کرکری-

کیری:(کی-ري)اسم- واحد- مذکر- د شکو دَ ذرو چاتولو غلبېل- هغه چاڼ چې دَ سیند شګه پرې دَ سرو زرو دَ پاره چڼولے شي-

کیری بیری:(کي-ري-بي-ري)اسم مرکب- سترګې خطا خطا کېدنه- سترګو ته سوري ستوري کېدنه-

کیریتوب:(کی-ري-توب)اسم- د کیري کار-

کیرے:(کی-رے)اسم- واحد- مذکر- هغه سړے چې دَ سیند له شګو دَ چاڼ په دریعه د سرو زرو ذرې بیلوي- شګه چڼونکے- جمع کیریان- مؤنث کیري-

کیرکیچو:(کیر-کی-چو)اسم- وګورئ کرکیچو-

کیړی:(کی-ړی)اسم- واحد- مؤنث- ځېلی- کېړی-

کیږدلے:(کیږ-دلے)اسم- واحد- مذکر- کوږدن کړے-

کیس:(کیس)اسم- واحد- مؤنث- قیصی-

کیسه:(کی-سه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)قیصه- قصه- (۲)کڅوړه- خلته- (۳)د کنکې کېږې نه ګنډل شوې کڅوړه چې په لاس اچولے شي او دَ بدن نه پرې خیرې پاکولے شي-

کیسه بر:(کی-سه-بر)اسم صفت- ګنډکپ- ګڼ کپ- جیب وهونکے-

کیسه برې:(کي-سه-برې)اسم- مؤنث- ګنډکپي- ګڼ کپي- جیب وهنه-

کیسی:(کی-سي)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)قیسی- یو قسم منډتې- خرماني- (۲)قصی- قیصی- قیصه-

کیش:(کیش)اسم صوت- دَ چرګو، مرغیو دَ شړلو اواز-

کیشپ:(کی-شپ)اسم- واحد- مذکر- کشپ- کشپه- کاسه ګرب- شمشتی- مېچنې- شکرتانے- شکونتې- کېشو- کشو- شین تتے- دَ اُبو یو حیوان-

کیشتک کیشتک:(کیش-تک-کیش-تک)اسم صوت- پیو پیو- سک سک- غوټی ته په غوا د ختلو اواز-

کیشک:(کی-شک)اسم- (۱)پېره داري- (۲)ګلر او تعقیب-

کیشکارل:(کیش-کا-رل)مصدر متعدي- سپے په سپي یا سړي ورتو کول- بیکارل- کشکارل-

کیشکره:(کیش-که-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د کاغي په شان یوه خړه مرغۍ- (۲)کاغه- کاغی- ګیرکه- عکک- (۳)یوه مشهوره مرغۍ- خبرک-

ئ" (ځی-رل)، "ې" (ضي-ره-ول)، "ی" (ه‍یا-ـلي)، "ے" (تن-دیے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

کیش کیش:(کیش-کیش)اسم صوت- دَ مرغیو، چرگانو وغیره د شړلو اواز-

کیشو:(کي-شو)اسم- وګورئ کیشپ-

کیشور:(کي-شور)اسم- یو قسم وبښتۀ او بټ لرونکے چینجے-

کیبت:(کبېښت)اسم صفت- ټینګار- ټینګېدنه-

کیښکری:(کیښ-کړ-ری)اسم- جمع- مذکر- (۱)احکوڅکی- خخوسکی- زړی- (۲)خښبوکی- خخولی- چزغولی-

کیښے:(کي-ښے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم چینجے چې عام طور سره د خوړو پۀ وجه دَ ماشومانو کُنه کښې کېږی- کیخ- کیخے-

کیغاچ:(کي-غاچ)اسم- دَ رمکې د یوی کولو داسې طرز چې دَ یو کُنج نه تر بل کُنج پورې کار وشی- (افغانستان)-

کیقاچ:(کي-قاچ)اسم- واحد- مذکر- تیقاچ- کوږ ووږ خیز- (م- ترکی)-

کیکار:(کي-کار)اسم- (۱)ککر- کبین- د مچیو شات، شهد- (۲)ږومبکے- (افغانستان)-

کیکته:(کي-کڼ-ته)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم لوبه- (افغانستان)-

کیکر:(کي-کر)اسم- واحد- مذکر- (۱)یوه خارداره وُنه- نباتاتی نوم اکیشیا اربیکا (ACACIA ARABICA)- (۲)دَ سرو مچو کبین-

کیکړی:(کیک-ړی)اسم- واحد- مؤنث- کوترېکی- کوترے- سپے-

کیکوړے:(کي-کو-ړے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ککوړے- (۱)وړه روټۍ، پوړی- (۲)ریکاړه، ریکاړ-

کیل:(کیل)اسم- واحد- مذکر- (۱)خط- (۲)رم- (۳)نقشه- لکیره- (۴)دَ قلبې کرښه- دَ پهال د څوکې کرښه- کیله- جمع کیلونه-

کیلک:(کي-لک)اسم- واحد- مذکر- موتے- ژغنډے- جوغنډے- هغه لرګے چې دَ کُنډې دَ تیر پۀ سوری کښې ننه ایستے شی او سربانړے لۀ جغ سره ټینګوی- جمع کیلکونه- (افغانستان)-

کیله:(کي-له)اسم- واحد- مؤنث- کرښه- خط- کیل- جمع کیلې-

کیلې:(کي-لي)اسم صفت- بندی- نښتې- ورعلې- پیچی شوی- چې حونېدے نۀ شی- (۲)غابنی- (۳)شغلاتی- یو قسم دَ کرښو راکښلو لوبه-

کیمخ:(کي-مخ)اسم- واحد- مذکر- یو قسم دانې داره څرمن چې د چرو تېکی تري جوړولے شی- کیمخت- ساغری څرمن-

کیمخت:(کي-مخت)اسم- وګورئ کیمخ-

کین:(کین)اسم- واحد- مذکر- کینه- عداوت- دشمنی-

کیند:(کیند)اسم- واحد- مذکر- اخور- دَ څارو دَ خوراک ځای-

کیندل:(کین-دل)مصدر متعدی- کنستل- کنودل- کینل- کنل-

کیندلے:(کین-دۀ-لے)اسم مفعول صفت- وګورئ کیندل-

کیندن:(کین-دن)حاصل مصدر- وګورئ کیندل-

کیندنګ:(کین-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ کیندل-

کیندنه:(کین-دنه)حاصل مصدر- وګورئ کیندل-

کیندونکے:(کین-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ کیندل-

کیندۀ:(کین-دۀ)حاصل مصدر- وګورئ کیندل-

کینډے:(کین-ډے)اسم- واحد- مذکر- کولنګ- کلنګ- کونډے- کایی-

کینزه:(کین-زه)اسم- واحد- مؤنث- قبزه- کنزه- جمع کینزې-

کینګه:(کي-نګه)اسم- مؤنث- دَ سپوږي تخم، الګی- کنه-

کینګارے:(کینګ-کارے)اسم- وګورئ کونګارے-

کینګری:(کینګ-ری)اسم- واحد/جمع- مؤنث- چڼل- ژغل- کاړ- کرېږ-

کینل:(کي-نل)مصدر- وګورئ کیندل-

کینودے:(کي-نو-دے)اسم- واحد- مذکر- سرنګ- سورنګ-

کینه:(کي-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)بُغض- حسد- (۲)زړۀ ته اچول-

کینه ګر:(کي-نه-ګر)اسم صفت- کینه ناک- کینه مار- پۀ زړۀ خیرن- هغه څوک چې پۀ زړۀ کښې کینه ساتی- کینه وړے- مؤنث کینه ګره-

کینه ناک:(کي-نه-ناک)اسم صفت- کینه ګر- کینه لرونکے- دُشمنی کوُنکے- کینه وړے- مؤنث کینه ناکه-

کینه وړے:(کي-نه-وړے)اسم صفت- وګورئ کینه ناک-

کینې:(کي-نې)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ انو- کینی-

کیڼ:(کیڼ)اسم- مذکر- ګس- کڼ- دَ ښی مقابل-

کیڼ لاسے:(کیڼ-لاسے)اسم صفت- ګس لاس سره کار کوُنکے- ګس متے- کیبے- ګس لاسے-

کیڼے:(کي-ڼے)اسم صفت- وګورئ کیڼ لاسے-

کینے:(کي-نے)اسم- واحد- مذکر- یو صحرائے بوټے-

کیواړ:(کي-واړ)اسم- واحد- مذکر- تلپ- قلف- تقل- کلپ- جندره- (افغانستان)-

کیول:(کي-ول)اسم- واحد- مذکر- یو قسم ګل-

کیوی:(کي-وی)اسم- واحد- مؤنث- حتې ننکی- سوی-

کیے:(که-یے)اسم- کنے- کړکے- ننے- نل- نے-

کې ایستل:(کې-ایس-تل)مصدر- وګورئ کېیستل-

کېبر:(کې-بر)اسم- واحد- مذکر- دوه غاښې- دوه سانګې- سکوه- دَ بوسو بادولو آله-

کېبل:(کے-بل)اسم- مذکر- دَ یو څو وړو سیمانو نه جوړ شوے غټ سیم- (انګریزی)-

کېبل باکس:(کے-بل-باکس)اسم- واحد- مذکر- (۱)پلن او پنډ داښ- (۲)دَ کشتی پیړے- (انګریزی)-

کېپ:(کېپ)اسم- واحد- مذکر- (۱)نسوار- (۲)نشه- بې خودی- مستی- کیف-

کېپی:(کے-پی)اسم صفت- نشه خور- عملی- بنګی- کیفی-

کېت:(کېت)اسم- واحد- مذکر- (۱)کیش- نغدي- (۲)دین- ائین-

کېټی:(کې-ټی)اسم- واحد- مؤنث- بطه- یو قسم سپین رنګ لرونکے مارغۀ چې دَ ایلی نه غټ وی-

کېټ:(کېټ)اسم- واحد- مذکر- فصیل- دَ ښار دیوال-

زبر"(ځ-سـۀ-ره)، "زورکے"(شل)، "پېش"(تو-کا-ره)، "زبر"(ک-تاب)، "جزم"(شکوې)، "ۀ"(و-ږه)، "ۀ"(پو-هې-دۀ)

www.pukhto.net

کېتلی:(کې-تهـلی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- پوبه- دَ چرګو دَ ساتلو ښکرۍ- مرغانچه- دَ چرګو ساتلو کوټئ-

کېج:(کېج)اسم صفت- مذکر- کېږ- تېج- کلک- سخت- (توری، پادرنګ وغیره)- (۲)سخت او کلک څیز چې ژوول یې ګران وی- (۳)هغه بوټے چې کلک غښتل شوے او سخت شوے وی-

کېجلے:(کې-جـلے)صفت- مذکر- (۱)شوم- ممسک- بخیل- اسی- اسپېک- (۲)بد چلنده-

کېجم:(کې-جـم)اسم- واحد- مذکر- لمسے چې دَ زین لاندې وی- شاګورے- کېمچ-

کېچ:(کېچ)اسم- واحد- مذکر- یو قسم څادر- کېش-

کېچت:(کې-چـت)اسم- کم عمره- دَ لږ عمر-

کېخ:(کېخ)اسم- واحد- مذکر- قبر-

کېخ کنے:(کېخ-کـنے)اسم فاعل/صفت- قبر کنستونکے- ګورکن- جمع کېخ کنی-

کېدل:(کې-دل)مصدر- (۱)تر سره رسېدل- ختمېدل- (۲)زېږېدل- (۳)خېلولی لزل- رشته لرل-

کېدن:(کې-دن)حاصل مصدر- وګورئ کېدل-

کېدنګ:(کې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ کېدل-

کېدنه:(کې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ کېدل-

کېدونکے:(کې-دون-کے)اسم فاعل- جمع کېدونکی- مؤنث کېدونکې- وګورئ کېدل-

کېده:(کې-ده)حاصل مصدر- وګورئ کېدل-

کېرته:(کېر-ته)اسم- واحد- مؤنث- دَ کمدنې په شان یوه کیاه چې پاڼې یې تېرې او کلکې وی-

کېړه:(کېړ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- یوه ازغنه ونه چې پاڼې نه لری او سره مېوه کوی- مېوه یې اومه هم خوړلے شی او مربه یې دَ کېړی دَ درد دَ پاره پکاروِلے شی- کېړی- کېړه- جمع کېړې- نباتاتی نوم کپېرس ډسیډوا (CAPPARIS DECIDUA)-

کېړی:(کېړ-ړی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ کېړه-

کېره:(کې-ره)اسم- واحد- مؤنث- یوه ونه چې پاڼې نه لری تخم یې سور وی او دَ بخکړی په توګه استعمالیږی- وګورئ کېړه-

کېری:(کې-ری)اسم- واحد جمع- مؤنث- دَ څرخ لو اراپې ژۍ-

کېږ:(کېږ)اسم- واحد- مذکر- دَ پټی نه تلو دَ ټانګرو یا اومرو- جنجیرو احاطه، باړ- دَ غنو یا دَ لښتو کېږ چاپېره دېوال-

کېږکی:(کې-ږه-کی)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم هوار دانړوی لوښے چې دَ لښتو نه جوړولے شی-

کېږه:(کې-ږه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)هغه کوټه پوله کندو چې له کیو، نلونو وغیره څخه جوړ کړے شوے وی- (۲)ځک- چجکے- پېکل- هغه پوره چې دَ کیو، نلونو نه جوړه وی او دَ کوټې دَ لرګیو او چت لاندې اچولے شی- (۳)دوه ښاخیز مېخ چې سپار پرې په ګنده کښې ټینګوی- (افغانستان)-

کېږی:(کې-ږی)اسم- واحد جمع- مؤنث- څېلی- پېزار-

کېزه:(کې-زه)اسم- واحد- مؤنث- واکه- قېزه- لګام- جمع کېزې-

کېږ:(کېږ)اسم صفت- کلک- سخت-

کېږدی:(کېږ-دی)اسم- واحد جمع- مؤنث- کېږدی- تمبو- خېمه-

کېږ:(کېږ)اسم صفت- (۱)رېږدلے- نازل شوے- کېس- کښے- (۲)ښکتے- خوږ-

کېږدل:(کېږ-دل)مصدر- کښېودل- اېښودل-

کېږدی:(کېږ-دی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)تمبو- خېمه- شامیانه- (۲)جونګړه-

کېږلے:(کې-ږ-ځلے)صفت معمول- (۱)کوږلے- رټلے- (۲)سپک- ذلیل- حقیر-

کېږه:(کې-ږه)اسم- واحد- مؤنث- وتره (زمکه)-

کس:(کس)اسم- مذکر- عزت- ابرو- آب- پت-

کسه:(کې-سه)اسم- واحد- مؤنث- کیسه- دَ پیسو تېلی- تېلی-

کسه:(کې-سه)اسم- واحد- مؤنث- کودالۍ- کودالی- کهی- کېس-

کسه:(کې-سه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ کېله- یوه ونه او دَ هغې مېوه-

کش:(کش)اسم- (۱)وېسا- باور- مذهب- طریقه- (۲)تیردان- تیرکش-

کښودل:(کې-ښو-دل)مصدر- کښېښودل- اېښودل- اېښول-

کښول:(کې-ښول)مصدر- کښېښودل- کېښودل-

کېف:(کېف)اسم- واحد- مذکر- کېپ- نشه- خوند- مزه- (م- عربی)-

کیفیت:(کے-فی-یت)اسم- (۱)حالت- رنګ ډنګ- رونق- مزه- نشه- شرحه- تفصیل- (۲)رپورټ-

کېک:(کېک)اسم- واحد- مذکر- دَ مېدې، اګیو او خوږو نه جوړ یو قسم خوندور خوراکه- جمع کېکونه-

کېکچ:(کې-کچ)اسم- واحد- مذکر- کړلېچ- تاژ راتاژ- الوول- انجل بنجل-

کل:(کېل)اسم- (۱)دَ لوبانو دَ ابو ګڼلو ځای- (۲)راز- نیاز- مشتولا- لوبه-

کلک:(کې-لک)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ اس دَ پښې پرے- پسدے- خولمه- (۲)دَ نیکی تسمه-

کلو:(کې-لو)اسم- دَ خشک څیزونو دَ ناپ کولو وزن- کلو-

کېلول:(کې-لـ-ول)مصدر متعدی- دَ حیوباتو څپ وهل- سرسر کول-

کېلون:(کې-لـ-ون)حاصل مصدر- وګورئ کېلول-

کېلونکے:(کې-لـ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ کېلول-

کېلونګ:(کې-لـ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ کېلول-

کېلونه:(کې-لـ-ونه)حاصل مصدر- وګورئ کېلول-

کېله:(کې-له)اسم- واحد- مؤنث- دَ یوی مېوی نوم- جمع کېلې- نباتاتی نوم موسا سیپینټم (MUSA SAPIENTUM)-

کېلے:(کې-لے)اسم- واحد- مذکر- دَ پښې په پوټکی کښې کلک مېخ- دَ پښې مېخ- مېخک- (افغانستان)-

www.pukhto.net

کېمچ:(کې-مچ)اسم- واحد- مذکر- وګوری: کېجم-

کېمره:(کېم-ره)اسم- واحد- مؤنث- د عکسونو اخستو آله-

کېمښل:(کې-من-ښل)مصدر متعدی- کښمښل-

کېمه:(کې-مه)اسم- واحد جمع- مؤنث- قیمه- کوفته- ټکېدلې غوښه-

کېمه:(کې-مه)اسم- واحد- مؤنث- د څرمنې جوړ لوښے چې د ګاڼې نه پرې تېل راځستے شي او نورو لوښو کښې اچولے شي-

کېمیا:(کې-میا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د کېمسټرۍ علم- (۲)د خاورو نه سرۀ زر جوړونه- (۳)نایاب-

کېمیابوټے:(کې-میا-بو-ټے)اسم- (۱)د کېمیا بوټے- (۲)کم یابی- د نایابته رائی کنایه-

ګرم:(ګه-رم)اسم صفت- مذکر- (۱)تود- حرارت لرونکے- (۲)تېز- چست- چټک- (۳)عاشق- مئین- (۴)جذباتی- غصه ناک- غصه- قهربدلے-
کرم:(کرم)اسم- واحد- مذکر- (۱)غم- رنځ- پمخاک- پخساک- نول- (۲)دماغی پرېشانی- (۳)یو مرض چې د غم له وجې پیدا کیږی- (۴)د خنو ونو په تنه کښے غوټه- ګروم- خفو- رخت-
ګرماګرم:(ګر-ما-ګه-رم)صفت مرکب- ډېر ګرم- چې زور د شور پکښې ری- تېر-
ګرماله:(ګر-ما-له)اسم- واحد- مؤنث- ګمله- خمله- د اخبر یا لبو کولو اله- پتانده-
کرمانه:(کر-ما-نه)اسم- واحد- مؤنث- د کرمولو جرمانه- تاعه- ملامتیا-
ګرمائی:(ګر-ما-ئی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ګرم والے- تودوالے- (۲)غصه- غضب- (۳)تېزوالے- ګرمتوب- ګرمتیا-
ګرمتوب:(ګه-رم-توب)اسم- واحد- مذکر- وګوری: ګرموالے-
ګرمتیا:(ګه-رم-تیا)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: ګرموالے-
کرمتیا:(کرم-تیا)اسم- واحد- مؤنث- ملامتیا- قصورواری-
ګرمټ:(ګر-مټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)نېزه- (۲)د غشی څوکه-
ګرمټ:(ګر-مټ)اسم- واحد- مذکر- هغه آله چې یو سر یې بروند وی او فرش، سړک یا رمکه وغیره پرې د کېښېدلو په غرض ټکولے شي- دُرمټ-
ګرمجوشی:(ګه-رم-جو-شي)اسم مرکب- مؤنث- جوش- ولوله- سرګرمی- ډېره دلچسپی-
ګرم سېر:(ګه-رم-سېر)اسم- واحد- مذکر- توده سیمه- توده خاوره- ګرمه علاقه- هغه علاقه چې توده وی- ګرم سېل-
ګرم سېل:(ګه-رم-سېل)اسم- واحد- مذکر- ګرمه علاقه- توده علاقه-
ګرمکه:(ګر-مه-که)اسم- واحد- مؤنث- هغه نری دانه چې د ګرمی په وجه په بدن راخیژی- جمع ګرمکي-

ګرمکي:(ګر-مه-کي)اسم- جمع- مؤنث- د ګرمکه جمع- وګوری: ګرمکه-
ګرمل:(ګر-مل)اسم- واحد- مذکر- وګوری: ګربل-
ګرملے:(ګر-مه-لے)اسم- واحد- مذکر- وګوری: کوت- کنجلک- کرت- ملو- کنحی-
ګرم ناک:(ګه-رم-ناک)صفت- مذکر- تاوژن- ګرمی ورکونکے- حرارت ورکونکے- ګرم وال-
ګرموال:(ګه-رم-وال)صفت- مذکر- وګوری: ګرم ناک-
ګرموالے:(ګه-رم-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- تودوالے- ګرمائش- تودوښه- تاؤ- ګرمی-
ګرموز:(ګر-موز)صفت- مذکر- غصه ناک- قهرژن-
کرمول:(کر-مه-مول)مصدر متعدی- ملامته کول- قصوروار ثابتول- پړکول-
ګرمول:(ګر-مه-مول)مصدر متعدی- (۱)تودول- حرارت ورکول- (۲)تېزول- شوق ورکول- (۳)غصه کول- قهرول-
کرمون:(کر-مه-مون)حاصل مصدر- وګوری: کرمول ۱-
ګرمون:(ګر-مه-مون)حاصل مصدر- وګوری: ګرمول ۲-
کرمونکے:(کر-مه-مون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری: کرمول ۱-
ګرمونکے:(ګر-مه-مون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ګرمونکي- مؤنث ګرمونکې- وګوری: ګرمول ۲-
کرمونګ:(کر-مه-مونګ)حاصل مصدر- وګوری: کرمول ۱-
ګرمونګ:(ګر-مه-مونګ)حاصل مصدر- وګوری: ګرمول ۲-
کرمونه:(کر-مه-مو-نه)حاصل مصدر- وګوری: کرمول ۱-
ګرمونه:(ګر-مه-مو-نه)حاصل مصدر- وګوری: ګرمول ۲-
کرموڼ:(کر-مه-موڼ)حاصل مصدر- وګوری: کرمول ۱-
ګرموڼ:(ګر-مه-موڼ)حاصل مصدر- وګوری: ګرمول ۲-
ګرمه:(ګر-مه)صفت- مؤنث- (۱)هغه ماده ښاروے چې د نر ښاروی طلب کوی- (۲)هغه مېوه چې ژر پخیږی- ژر رارسېدونکې یا پخېدونکې مېوه-
ګرمه:(ګر-مه)اسم- واحد- مؤنث- د خربوزې یو قسم-
ګرمه ګورمه:(ګر-مه-ګور-مه)اسم صفت- مؤنث- کنډه ګوډه-
ګرمی:(ګر-مي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)تاؤ- تبه- تودوالے- تودوخی- د اوړی موسم- (۲)غصه- قهر- غضب- (۴)سوزاک- د تشو متیازو مرض- آتشک-
کرمېدل:(کر-مې-دل)مصدر لازم- ملامته کېدل- پړکېدل- قصوروار کېدل-
ګرمېدل:(ګر-مې-دل)مصدر لازم- (۱)تودېدل- حرارت موندل- (۲)شوق موندل- تېزېدل- (۳)غصه کېدل- قهرېدل-
کرمېدن:(کر-مې-دن)حاصل مصدر- وګوری: کرمېدل ۱-
ګرمېدن:(ګر-مې-دن)حاصل مصدر- وګوری: ګرمېدل ۲-
کرمېدنګ:(کر-مې-دنګ)حاصل مصدر- وګوری: کرمېدل ۱-
ګرمېدنګ:(ګر-مې-دنګ)حاصل مصدر- وګوری: ګرمېدل ۲-

زبر (ځ-بـه-ره)، زورکے (شل)، پېښ (نو-کیا-ره)، زېر (ک-تـاب)، جزم (شکون)، ه (ر-یـه)، ة (یو-میي-ده)

www pukhto net

گرمېدنه:(گر-مې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ گرمېدل ۱-

گرمېدنه:(گر-مې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ گرمېدل ۲-

گرمېدونکے:(گر-مې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ گرمېدل ۱-

گرمېدونکے:(گر-مې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع گرمېدونکي- مؤنث گرمېدونکې- وګورئ گرمېدل ۲-

گرمېدۀ:(گر-مې-دۀ)حاصل مصدر- وګورئ گرمېدل ۱-

گرمېدۀ:(گر-مې-دۀ)حاصل مصدر- وګورئ گرمېدل ۲-

گرمېل:(گر-مېل)اسم- واحد- مذکر- وګورئ گربل-

کرمټنې:(کر-مټ-نې)اسم- واحد/جمع- مؤنث دَ ماشومانو يوه لوبه چې پۀ ورو ورو ټيکرو کولے شي-

کرمته:(که-رن-ته)اسم- واحد- مؤنث- هغه بوټے چې د حسن او ښاږ پۀ توګه د چمن او داسې نورو ځايونو نه کېږ چاپېره کولے شي- نباتاتي نوم ټېمرکس ډيوکا TAMARIX DIOCA-

کرنج:(کرنج)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ پخو وريژو يو قسم- برنج- يو قسم پلاؤ- (۲- اسم صوت)دَ ټيټلو د لوښو اواز-

کرنجار:(کرن-جار)اسم- واحد- مذکر- هغه زمکه چې چرته دَ شولو پېداوار زيات وي- شولګره-

کرنجارے:(کرن-جا-رے)اسم صوت- واحد- مذکر- کرنهار- کرنکار- ځوګه-

کرنجاے:(کرن-جا-ے)اسم- واحد- مذکر- جرس-

کرنجهار:(کرن-جه-هار)اسم صوت- وګورئ کرنجارے-

کرنجے:(کرن-جے)اسم صوت- کرنجارے-

کرنځ:(کرنځ)اسم- واحد- مذکر- پۀ هوا کښې دَ څۀ څيز دَ تېرېدو آواز-

کرند:(کرند)اسم- واحد- مذکر- يو غرنيزه ازغنه ونه-

کرند:(کرند)اسم- واحد- مذکر- ژغل- جانه- زنګال-

کرند:(کرند)اسم- واحد- مذکر- دَ هندوانو يو مذهبي کتاب-

کرندوکے:(کرن-دو-کے)اسم- واحد- مذکر- دَ آسپو دَ خرخره کولو آله-

کرنده:(کرن-ده)اسم- واحد- مؤنث- مرغړے- مرووړے- غدود- موره-

کرندے:(کرن-دے)اسم- واحد- مذکر- بخښنه- خلاصے- روغه- صلح-

کرندے:(کرن-دے)اسم- واحد- مذکر- توبړه- دَ توکلې دَ سامان بوجکي-

کرندے:(کۀ-رن-دے)اسم صفت- واحد- مذکر- ګرندے- تُند- تېز تلونکے- چُست- جمع کرندي-

کرنوه:(کۀ-رن-وه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ګرګره-

کرنوه:(کرن-وه)اسم- واحد- مؤنث- يوه هندوستاني مېوه چې اچار ترې جوړولے شي-

کرو:(کُ-رُو)اسم صفت- واحد- مذکر- پوی- پوه- پوهه- استاد- تجربه کار- پير- ماهر- هوښيار- چالاک- ترکيبي- د علم نابغه استاذ-

کرو:(کۀ-رو)اسم- واحد- مذکر- (۱)کاله- کفالت- قيد- (۲)تړ- تړون- ناغه- عهد و پيمان- قول- لوظ-

کروبله:(کرو-بـله)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ بلغم-

کروبلے:(کرو-بـلے)اسم- واحد- مذکر- بلغم- خراشکے- کرولے- کروبله-

کروبے:(کرو-بے)مذکر- وګورئ کروړبے-

کروپ:(کروپ)اسم- واحد- مذکر- ټولے- ټولکے- مجلس- غُنډه- پله- (م- انګريزي)-

کروپے:(کرو-پے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ پکړي-

کروڅکے:(کروڅ-کے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم دانې چې مربه ترې جوړولے شي-

کروړبے:(کروړ-بے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ سينې درد- دَ سينې درد- (۲)بلغم- کرولبے- کروبے- خراشکے-

کروز:(کروز)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کرز-

کروشېل:(کرو-شې-يل)مصدر متعدي- وګورئ بکارول-

کرول:(کۀ-ر-ول)مصدر متعدي- (۱)نوکاري کول- پۀ نوکونو راتوړل- (۲)پوسکے لرې کول- تورول- (۳)احاطول-

کرولبے:(کرول-بے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کروړبے-

کرولے:(کرو-لے)اسم- واحد- مذکر- بلغم- خراشکے- کروړبے- کرولبے-

کروم:(کروم)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کرم-

کرومجن:(کروم-جن)اسم صفت- مذکر- غمګين- پرېشان- کرومژن-

کرومژن:(کروم-ژن)اسم صفت- واحد- مذکر- وګورئ کرومجن-

کرون:(کۀ-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ کرول-

کرونکے:(کۀ-ر-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع کرونکي- مؤنث کرونکې- وګورئ کرول-

کرونګ:(کۀ-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ کرول-

کرونه:(کۀ-ر-ونه)حاصل مصدر- وګورئ کرول-

کروۀ:(کۀ-ر-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ کرول-

کروه:(کرُ-وه)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ اوړې او ځټې تر منځه ځاې (موکے)- (۲)دَ تميص کالر- کريوے-

کروه:(کرو-وه)اسم- واحد- مؤنث- تنې- بېښ- غېدے- ګل مخې-

کروه:(کروه)اسم- واحد- مذکر- (۱)دين- مذهب- (۲)قوم- (۳)ټولے- پله- جمع کروهونه-

کروهن:(کرو-هن)صفت- مذکر- (۱)مائل- راغب- (۲)مهربان- (۳)دَ ظلم نه ترهه لرونکے-

کروهنه:(کرو-هـنه)اسم- مؤنث- (۱)مينه- محبت- (۲)ترهېدنه- وېرېدنه- (۳)لورنه- پېرزو- پېرزوينه-

کروهنے:(کرو-هـنے)اسم صفت- مذکر- مهربان- مينه کونکے- پېرزو لرونکے-

کروهوځے:(کرو-هو-ځے)اسم- واحد- مذکر- کراځه- لنده-

کروهول:(کرو-هو-ول)مصدر متعدي- متوجه کول- راګرځول- مائله کول-

پام راګرځول- (۲)لهٔ ظلم نه ویرول- ترهول- (۳)عقیدتمند جوړول-

کرومولے:(ګرو-مه-وَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ کرومول-

کرومون:(ګرو-مه-ون)حاصل مصدر- وګورئ کرومول-

کرومونکے:(ګرو-مه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ کرومول-

کرومونګ:(ګرو-مه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ کرومول-

کرومونه:(ګرو-مه-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ کرومول-

کروموهٔ:(ګرو-مه-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ کرومول-

کرومېدل:(ګرو-مې-دل)مصدر لازم- (۱)مائله کېدل- متوجه کېدل- پام راګرځول- (۲)ویرېدل- ترهېدل- (۳)عقیدتمند جوړېدل- معتقد کېدل-

کرومېدلے:(ګرو-مې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ کرومېدل-

کرومېدن:(ګرو-مې-دن)حاصل مصدر- وګورئ کرومېدل-

کرومېدنګ:(ګرو-مې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ کرومېدل-

کرومېدنه:(ګرو-مې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ کرومېدل-

کرومېدونکے:(ګرو-مې-دون-کے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ کرومېدل-

کرومېدهٔ:(ګرو-مې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ کرومېدل-

کروي:(کر-وي)اسم- جمع- مؤنث- وګورئ کروه ۲-

کروېړل:(ګر-وي-ړل)مصدر متعدی- پښتنه کول- لټون کول- کېږنه کول- (افغانستان)-

کروېړلے:(ګر-وي-ړَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ کروېړل-

کروېړن:(ګر-وي-ړن)حاصل مصدر- وګورئ کروېړل-

کروېړنه:(ګر-وي-ړَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ کروېړل-

کروېړونکے:(ګر-وي-ړون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ کروېړل-

کروېړهٔ:(ګر-وي-ړهٔ)حاصل مصدر- وګورئ کروېړل-

کروېول:(ګر-وي-ول)مصدر متعدی- وګورئ کروېړل-

کروے:(ګر-وے)اسم- واحد- مذکر- زېبرګے- فریاد- زګېروے-

کره:(کمره)اسم- واحد- مؤنث- پهٔ خاورو کښې دٔ محفوظ کړے شویو کنو تهوپ یا پېرے-

کرهار:(کر-هار)اسم صوت- واحد- مذکر- کړ- دٔ جامو شلېدلو اواز- کړار-

کرهچ:(کر-هچ)اسم- واحد- مذکر- پرغل- کندو- کرهوچ-

کرهوچ:(کر-هوچ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کرهچ-

کریان:(کر-یان)صفت- واحد- مذکر- ژړغونے- فریادی- ژړېدونکے-

کریاني:(کر-یا-ني)اسم- واحد- مؤنث- ژړا- فریاد- کریه-

کریب:(ګریب)اسم- واحد- مذکر- د اوش قم-

کریټ:(ګریټ)اسم- واحد- مؤنث- لویه او پېړه بوډۍ چې ګړه هم پکښې اچولے شوې وي-

کریس:(ګریس)اسم- جمع- مذکر- (۱)وازګه- چربي- وازده- غوړوالے- (۲)یو قسم غلښناکه ماده چې د موټرو لاریو پهٔ پایو کښې د غوړوالي قائم ساتلو دٔ پاره استعمالیږي-

کرینډی:(ګرین-ډی)اسم- واحد/جمع- مؤنث کڅاوه-

کریه:(کر-یه)اسم- واحد- مؤنث- ژړا- انګولا- ویر- چغې- فریاد-

کرېبان:(ګرې-بان)اسم- واحد- مذکر- ګرېوان- دٔ قمیص غاړه-

کرېته:(ګرې-ته)اسم- واحد- مؤنث- دٔ مړي حلوا چې جنازې نه سمدستي پس پخولے شي- لېټي-

کرېتي:(ګرې-تي)اسم- جمع- مؤنث- دٔ کېلو ماتو خبرې- کیلې ماندرې- کیلې ماتې-

کرېدل:(کمرې-دل)مصدر لازم- (۱)کهه کول- خارښتېدل- (۲)رژېدل- ګنجې کېدل- کرښې کرښې کېدل- (۳)زخمي کېدل- خورګ وجود نه لرې کېدل- (۴)پوستکے لرې کېدل- (۵)خهٔ څیز بوډېدل- حاصلېدل-

کرېدلے:(کمرې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ کرېدل-

کرېدن:(کمرې-دن)حاصل مصدر- وګورئ کرېدل-

کرېدنګ:(کمرې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ کرېدل-

کرېدنه:(کمرې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ کرېدل-

کرېدونکے:(کمرې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع کرېدونکي- مؤنث کرېدونکې- وګورئ کرېدل-

کرېدهٔ:(کمرې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ کرېدل-

کرېز:(کـرېز)اسم- واحد- مذکر- (۱)تېښته- فرار- (۲)پېلېدنه- پرهېز- احتناب- (۳)پهٔ قصیده کښې لهٔ تمهیده پس اصل مقصد ته راګرځېدنه- کرېغ- (م- فارسی)-

کرېزان:(ګرې-زان)اسم فاعل صفت- (۱)تېښتېدونکے- (۲)وېرېدلے- ترهېدلے- کرېزپا- (م- فارسی)-

کرېزانے:(ګرې-زانے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ اروے- اروبے- اورمے-

کرېزپا:(ګرېز-پا)اسم صفت- وګورئ ګرېزان- (م- فارسی)-

کرېزی:(ګرې-زی)اسم- واحد- مذکر- (۱)فرار- تېښته- (۲)سمګلنګ-

کرېس:(ګرېس)اسم- واحد- مذکر- مکر- فرېب- چل- بانه- بهانه- حیله-

کرېشک:(ګرې-شک)اسم- واحد- مذکر- کټه ګټه- دٔ لاس وروستي ګټه-

کرېغ:(ګرېغ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ګرېز-

کرېکرکے:(ګرې-کر-کے)اسم- واحد- مذکر- ولی-برېکرکے- دٔ باران سره دٔ واورې راورېدنه- کرېکرکے- ګړه کړے-

کرېکړے:(ګرې-کړے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کرېکرکے-

کرېله:(کمرې-له)اسم- واحد- مؤنث- توشک- تولاني- جمع کرېلې-

کرېن:(ګرېن)اسم- واحد- مذکر- (۱)تخم- (۲)غله- (۳)دانه- (۴)دٔ یوې نیمې رتي یو ورن-

کرېو:(ګرېو)اسم- واحد- مذکر- ګانه- رهن- ګروه-

کرېوان:(ګرې-وان)اسم- واحد- مذکر- دٔ قمیص معه برخه چې پهٔ سینه پرته وي او تڼۍ پکښې لګولے شوې وي- کرېبان- کرېوه- ګېړ-

کریولی:(ګریو-لي)اسم- واحد- مؤنث- بلغم- خراشکے- خراچکے-

www.pukhto.net

کړبوه:(کړي-وه)اسم- واحد- مؤنث- کړبوان- کروه-
کربوه:(کري-وه)اسم- واحد- مؤنث- د تښي سوري-
کړبوه:(کړي-وه)اسم- واحد- مؤنث- ووړکی غو- غرکی- غڼدی-
کړبوی:(کري-وی)اسم- واحد- مذکر- وګوری کروه-
کړبیل:(کړ-ري-یل)مصدر متعدی- خارښتبدل- کربدل-
کری:(کر-ري)اسم- جمع- مؤنث- د وریژو داني چي په بوټی کښي نیمي پخ شوي وی-
کری:(کری)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه سړی چي غابښونه ئې کاږهٔ واږهٔ او بې ترتیبه وی-
کری:(کړ-ری)اسم- واحد- مذکر- ووړکی درمن یا درمند- درمندګی-
کړ:(کړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)قلعه- قلا- حصار- (۲)ډ لاحقې په توګه د ظرفیت معنی ورکوی- د وسیدو ځای. لکه امان کړ، علی کړ، خوشحال کړ وغیره-
کړ:(کړ)اسم- واحد- مذکر- لفظ- خبره- وینا-
کړاکو:(کړ-را-کو)اسم- واحد- مذکر- (۱)د تماکو او زوړ ګړي مرکب چي چیلم کښي ښکلی شي- (۲)د هغه چیلم نامه چي زړه ګړه او تماکو پکښي ښکلی شي-
کړب:(کړب)اسم- واحد- مذکر- (۱)تیزي او تندي خبري- (۲)د دوو ځیزونو په ښکلو کښي د جنګیدو اواز- د ور یا په څهٔ ځیز د سر بندرلو اواز- (۳)د منګکانو نیولو پنجره- (۴)عته سوړه- چودي ځای-
کړبا:(کړ-با)اسم صوت- (۱)خبري- کړه بړه- (۲)د دروازي وغیره اواز-
کړباده:(کړ-با-ده)اسم- واحد- مؤنث- بړبوکی- د بیریانو بړلی-
کړبار:(کړ-بار)اسم- واحد- مذکر- وګوری کړبهار-
کړبلوو:(کړ-با-لوو)اسم صفت- واحد- مذکر- کړتن- ډیری خبری کونکی-
کړباره:(کړ-با-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د ابو د خارجیدو ځای- (۲)کانیزه زمکه-
کړبر:(کړ-بړ)اسم- واحد- مذکر- وګوری کړبړ-
کړبری:(کړ-بړ-ری)اسم- واحد- مذکر- وګوری کړبړ-
کړبړ:(کړ-بړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)د کبوي د قرپیدو اواز- قرقر- (۲)بدنظمی- خلل- بدانتظامی- ګړوډی- ورانی- (۳)کړبار- کړبیدنه- (۴)په اراده یا بیان کښي فرق راتلنه- (۵)وارخطائی- جنجال- کړبړی- کړبړ- کړبړی-
کړبړی:(کړ-بړ-ری)اسم- واحد- مذکر- وګوری کړبړ-
کړب کړوب:(کړب-کړوب)اسم صوت- (۱)خبري اتري- (۲)د دروازی وغیره د بندیدو او خلاصیدو پرله پسي اواز-
کړبن:(کړ-بن)اسم صفت- مذکر- کړبند- فضول خبری کونکی- وښندوکی- سرماغزن- کړبو- مؤنث کړبنه-
کړبند:(کړ-بند)اسم صفت- واحد- مذکر- کړبن- قړتو- تړتو- خبرلوخ-
کړبند:(کړ-بند)اسم صفت- (۱)زور- کمزوری- ضعیف- بوډا- (۲)ډیر استعمال شوی- مؤنث کړبنده-
کړبنده:(کړ-بن-ده)اسم- واحد- مؤنث- په غر کښي لویٔ قدرتی غار- ځمڅ-
کړبوزه:(کړ-بو-زه)اسم- ریبدنه- ریچ- کړکوزه- رپ ریی- ککړوزه- جمع کړبوزی-
کړبوزی:(کړ-بو-زی)اسم- واحد- مذکر- (۱)غزی- (۲)بالښت- تکیه- کړوزی-
کړبول:(کړ-بو-ول)مصدر متعدی- (۱)د څهٔ ځیزه د کړب کړب اواز ویستل- (۲)زړول- ډیر استعمالول- (۳)د چا ډیري فضول خبري ویستل- (۴)غصه کول-
کړبولی:(کړ-بو-ولی)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګوری کړبول-
کړبون:(کړ-بو-ون)حاصل مصدر- وګوری کړبول-
کړبونکی:(کړ-بو-ون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری کړبول-
کړبونګ:(کړ-بو-ونګ)حاصل مصدر- وګوری کړبول-
کړبونه:(کړ-بو-ونه)حاصل مصدر- وګوری کړبول-
کړبهار:(کړ-بهار)اسم صفت- واحد/جمع- مذکر- د دوو ځیزونو د ځنګولو اواز- د کړب کړب اواز- کړبار-
کړبیدل:(کړ-بي-دل)مصدر لازم- (۱)د څهٔ ځیزه د کړب کړوب اواز ختل- (۲)زړیدل- ډیر زیات استعمالیدل- (۳)ډیري فضول خبري کول- (۴)غصه کیدل- (۵)کمزوری کیدل- ډیر ماتده کیدل-
کړبیدلی:(کړ-بي-دلی)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګوری کړبیدل-
کړبیدن:(کړ-بي-دنګ)حاصل مصدر- وګوری کړبیدل-
کړبیدنه:(کړ-بي-دنه)حاصل مصدر- وګوری کړبیدل-
کړبیدونکی:(کړ-بي-دون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوری کړبیدل-
کړبیزن:(کړ-بي-زن)اسم صفت- مذکر- کړبیزن- هغه سړی چي ژوزه ئې مدام د کند نه ډکه وی- خیرن- خچن- پوار سړی- مؤنث کړبیزنه-
کړچ:(کړچ)اسم- واحد- مذکر- تیزي او تندي خبري- د دوو کسانو تر مینځه د غصي او شور خبري-
کړخ:(کړخ)اسم- واحد- مذکر- وګوری کړز-
کړخا:(کړ-خا)اسم- واحد- مؤنث- وګوری کړزا-
کړخار:(کړ-خار)اسم- واحد- مذکر- وګوری کړزا-
کړخ کړوخ:(کړخ-کړوخ)اسم مرکب- مذکر- (۱)کړز کړوز- کړکور- غرغور- په باران کښي د اسمانی بجلی اواز- د تندر اواز- کړزهار- (۲)زړي-
کړخول:(کړ-خول)مصدر متعدی- وګوری کړزول-
کړچ:(کړچ)اسم صوت- د څهٔ ځیز د جنګیدو اواز-
کړچاروز:(کړ-چا-روز)اسم صفت- مذکر- (۱)تیزي او تندي خبري کونکی- هر چا سره د غصي خبري کونکی- (۲)هغه سړی چي زوم د سخر کره بوخی او ملته ئې تعارف کوی-

www.pukhto.net

کرچند: (کَرِ-چَند) اسم- هغه څیز چې کړچ کړچ کوي-

کرچول: (کَرِ-چِـ-ول) مصدرِ متعدی- د خوځولو په وجه اواز پیدا کول- (عموماً د دروازې)-

کرچولے: (کَرِ-چِـ-وُ-لے) اسمِ معمول- واحد- مذکر- جمع کرچولي- مؤنث کرچولې- وګورئ کرچول-

کرچون: (کَرِ-چِـ-ون) حاصلِ مصدر- وګورئ کرچول-

کرچونکے: (کَرِ-چِـ-وون-کے) اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع کرچونکي- مؤنث کرچونکې- وګورئ کرچول-

کرچونګ: (کَرِ-چِـ-ونګ) حاصلِ مصدر- وګورئ کرچول-

کرچونه: (کَرِ-چِـ-و-نَه) حاصلِ مصدر- وګورئ کرچول-

کرچوړ: (کَرِ-چِـ-وړ) حاصلِ مصدر- وګورئ کرچول-

کرچه: (کَرِ-چَه) اسم- واحد- مؤنث- زباني جنجال- زباني بحث و تکرار-

کرچهار: (کَرِ-چِـ-هار) اسمِ صوت- د کړچ کړچ مسلسل اواز-

کرچېدل: (کَرِ-چې-دَل) مصدرِ لازم- د خوځېدو په وجه اواز پیدا کېدل (عموماً د دروازې)-

کرچېدلے: (کَرِ-چې-دَ-لے) اسمِ معمول- واحد- مذکر- جمع کرچېدلي- مؤنث کرچېدلې- وګورئ کرچېدل-

کرچېدن: (کَرِ-چې-دَن) حاصلِ مصدر- وګورئ کرچېدل-

کرچېدنګ: (کَرِ-چې-دَنګ) حاصلِ مصدر- وګورئ کرچېدل-

کرچېدنه: (کَرِ-چې-دَ-نَه) حاصلِ مصدر- وګورئ کرچېدل-

کرچېدونکے: (کَرِ-چې-دُون-کے) اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع کرچېدونکي- مؤنث کرچېدونکې- وګورئ کرچېدل-

کرچے: (کَرِ-چے) اسمِ صوت- وګورئ کرچهار-

ګرد: (ګرد) اسم- واحد- مذکر- دوړه- ګرد- غبار- هوا سره الوتونکې خاوري خځلې- ګرد-

ګرد: (ګرد) صفت- مذکر- وګورئ ګرد-

ګرداګرد: (ګر-دا-ګرد) صفت- وګورئ ګرداګرد-

ګرداګرد: (ګر-دا-ګرد) صفت- مذکر- وګورئ ګرداګرد-

ګردان: (ګر-دان) اسم- واحد- مذکر- د غړه لمن-

ګردان: (ګر-دان) اسم- واحد- مذکر- د ښیارانو لوټکے-

ګردان: (ګر-دان) اسم- واحد- مذکر- (۱) ګردان- سردوباره زوتول- (۲) ګرځېدونکے- ګرځندے- چورلېدونکے- (۳) په مرکباتو کښې اکثر د فعلِ متعدی په معنو کښې استعمالیږي لکه سرګردان- جمع ګردانونه-

ګردانول: (ګر-دا-نه-ول) مصدرِ متعدی- ګردانول- سردوباره کول- زوتول- یادول- زوړ سبق بیا د سره اړول-

ګردانون: (ګر-دا-نه-ون) حاصلِ مصدر- وګورئ ګردانول-

ګردانونکے: (ګر-دا-نه-وون-کے) اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع ګردانونکي- مؤنث ګردانونکې- وګورئ ګردانول-

ګردانونګ: (ګر-دا-نه-ونګ) حاصلِ مصدر- وګورئ ګردانول-

ګردانونه: (ګر-دا-نه-و-نَه) حاصلِ مصدر- وګورئ ګردانول-

ګرداو: (ګر-داو) اسم- واحد- مذکر- چلهـ سېلاب- څپه- هغه سېلاب چې چار چاپېره مخې وهي- (۲) غولې- ګرداب- چورلندے- چورلن-

ګردسره: (ګرد-سَ-رَه) متعلق فعل- بالکل- بېخي- له ځېلمې- له سره- څوړ- چورلت-

ګردګاړے: (ګرد-ګا-ړے) اسم- واحد- مذکر- وګورئ ګردګاړے- جمع ګردګاړي-

ګردن: (ګر-دَن) اسم- واحد- مؤنث- ګردن- څټ- غاړه- (۲) دمه-

ګردنې: (ګر-دَ-نې) اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ ګردنې-

ګردوکے: (ګر-دَو-کے) اسم- واحد- مذکر- ګرده تخته چې په خېمه کښې پکارولے شي- د خېمې اړم-

ګرده: (ګر-دَه) صفت- مؤنث- د ګرد مؤنث- وګورئ ګرد-

ګرده: (ګر-دَه) اسم- واحد- مؤنث- ګرده- ګرده- ګرده-

ګردی: (ګر-دی) اسم صفت- واحد- مؤنث- غنډه- د دائرې په شکل تاو شوې ګرچېره- تاو راتاو- حلقه-

ګردۍ: (ګر-دۍ) اسم- واحد- مؤنث- د څرخي چکر-

ګردے: (ګر-دے) اسم- واحد- مذکر- (۱) ټکے- چرمکے- ځرخلکے- (۲)- صفت) مندرے- چیتکے- وړوکے قد لرونکے سړے-

ګرز: (ګرز) اسمِ صوت- واحد- مذکر- تېز او دروند اواز- د بارودو یا د تندر وغیره اواز- ږز-

ګرزا: (ګر-زا) اسمِ صوت- واحد- مؤنث- د ږزو مسلسل آواز- ګرزار- ګرزارے- ګرز ګروز-

ګرز ګروز: (ګرز-ګروز) اسم مرکب- مذکر- وګورئ ګرځ ګروځ-

ګرزول: (ګر-زَ-ول) مصدرِ متعدی- (۱) له څه څیزه د ګرز ګرز آواز ویستل- (۲) ږزول- ږزې کول- (۳) دشمنی جاري ساتل-

ګرزون: (ګر-زَ-ون) حاصلِ مصدر- وګورئ ګرزول-

ګرزونکے: (ګر-زَ-وون-کے) اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ګرزول-

ګرزونګ: (ګر-زَ-ونګ) حاصلِ مصدر- وګورئ ګرزول-

ګرزونه: (ګر-زَ-و-نَه) حاصلِ مصدر- وګورئ ګرزول-

ګرزهار: (ګرز-هار) اسمِ صوت- جمع- مذکر- وګورئ ګرزا-

ګرزېدل: (ګر-زې-دَل) مصدرِ لازم- ګرز ګروز کېدل- ګرېږېدل- په یو مخ د برو آوازونه کېدل- ګرزارے کېدل- (۲) ږزېدل- ږزې کول- (۳) دشمنی جاري ساتل-

ګرزېدن: (ګر-زې-دَن) حاصلِ مصدر- وګورئ ګرزېدل-

ګرزېدنګ: (ګر-زې-دَنګ) حاصلِ مصدر- وګورئ ګرزېدل-

ګرزېدنه: (ګر-زې-دَ-نَه) حاصلِ مصدر- وګورئ ګرزېدل-

زبر "(ـَ-سره)، زورکے "(ـُ)، پېښ "(ـُو-کاسره)، رمز (کـ-تاب)، حزم (شکوې)، ه (ر-ې-ه) ۀ (ېو-مي-دۀ)

www.pukhto.net

ګړزېدونکے:(ګړ-زې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ګړزېدل-

ګړزېدهٔ:(ګړ-زې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ ګړزېدل-

ګړشهه:(ګړ-شَ-هه)اسم صفت- واحد- مؤنث- کړشهه- کهه خُله چې غلنونه پکښې نهٔ وی-

ګړکاهېر:(ګړ-کا-هېر)صفت- ګړکاهېره- ګېهره- هغه څۀ چې د بل شی ګډه پکښې شوې وی- کاهېره- سه او بد- شریف او کم اصل- اصیل او رذیل-

ګړکړ:(ګړ-کړ)اسم مرکب- د ګېډې اواز- ټرټر- دَ اوبو اواز-

ګړګړی:(ګړ-ګَ-ړۍ)اسم- واحد- مذکر- تورتورو- ستونے- حلقوم- غرے- غروے- دَ مری سُورے- حلق-

ګړګړے:(ګړ-ګۀ-ړے)اسم- واحد- مذکر- چورلندے- چرخ-

ګړکوتی:(ګړ-کو-تی)اسم- جمع- مدکر- ګالګوتی- ګورګوتی- ګلګوتی- هغه وېښتهٔ چې تاؤ راتاؤ وی-

ګړ ګوړ:(ګړ-ګوړ)اسم صوت- مذکر- دَ أسمان ګړارے- ګړار- تندر- د بریښ او ګړاری اُوازونه- تتا-

ګړکوزه:(ګړ-کو-زه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ګړبوزه-

ګړکے:(ګړ-کے)اسم- دائره-

ګړلیکے:(ګړ-لي-کے)اسم- واحد- مذکر- ډکشنری- لغت نامه- قاموس- فرهنګ- (افغانستان)-

ګړماچے:(ګړ-ما-چے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ګړونج-

ګړماګړ:(ګړ-ما-ګړ)اسم- مرکب- مذکر- ډېر شور- شور زوږ- چغې سورې-

ګړماله:(ګړ-ما-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ګرماله-

ګړمانج:(ګړ-مانج)اسم- ماخو- ګړوانجو- دَ ګېډې دَ ونې ستغ چې پهٔ داررکامو کښې پکارولے شی-

ګړمچے:(ګړ-مه-چے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ګړونج-

ګړمن:(ګړ-من)صفت- واحد- مذکر- شوګیره کونکے- بې خوبه- شوکیر- ګړن-

ګړن:(ګۀ-ړن)صفت- واحد- مذکر- (۱)ګړمن- شوکیر- (۲)ستړے-

ګړنج:(ګړنج)اسم- مذکر- شرنګ- شرنګ- دَ تورو جنګېدو اواز- دَ لوښو خپلو کښې د جنګېدو نرے اواز-

ګړنج:(ګړنج)اسم- واحد- مذکر- ګمت- سوَن- پهٔ ورو آواز- بې معنې تلفظ-

ګړنجول:(ګړن-جه-وَل)مصدر متعدی- لهٔ تورو نه شرنګار وېستل- شرنګول- دَ شیشې دَ لوښو نه دَ شرنګ آواز وېستل- لهٔ څهٔ څیزه غلے شرنګ یا ټنګ وبستل- پهٔ ورو ټنګول یا شرنګول- نرے آواز وېستل-

ګړنجولے:(ګړن-جه-وَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ګړنجول-

ګړنجون:(ګړن-جه-ون)حاصل مصدر- وګورئ ګړنجول-

ګړنجونکے:(ګړن-جه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ګړنجول-

ګړنجونګ:(ګړن-جه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ګړنجول-

ګړنجونه:(ګړن-جه-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ګړنجول-

ګړنجونے:(ګړن-جه-وَ-نے)اسم- واحد- مذکر- جرس-

ګړنجهار:(ګړن-جه-هار)اسم صوت- دَ جرس دَ ټنګېدو مسلسل اواز-

ګړنجېدل:(ګړن-جې-دَل)مصدر لازم- دَ تورو جنګېدو پهٔ وجه نرے شرنګ وتل- د څهٔ څیز نه نرے آواز پیدا کېدل- شرنګېدل- ګړنګېدل-

ګړنجېدلے:(ګړن-جې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ګړنجېدل-

ګړنجېدن:(ګړن-جې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ ګړنجېدل-

ګړنجېدنګ:(ګړن-جې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ګړنجېدل-

ګړنجېدنه:(ګړن-جې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ګړنجېدل-

ګړنجېدهٔ:(ګړن-جې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ ګړنجېدل-

ګړنجے:(ګړن-جے)اسم صوت- وګورئ ګړنجهار-

ګړند:(ګۀ-ړند)اسم صفت- ېېرې خبرې کونکے- سخت زړے- خله ور- ژبه ور- مؤنث ګړندی-

ګړندر:(ګړن-در)اسم- واحد- مذکر- شمېر- عدد- ګرندر-

ګړندوالی:(ګۀ-ړند-والی)اسم- واحد- مؤنث- ژبه ورتوب- پهٔ خبرو کښې سزوالے- خله ورتوب- زبان درازی- ګرندوالے-

ګړندوالے:(ګۀ-ړند-والے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ګړندوالی-

ګړندی توب:(ګۀ-ړن-دی-توب)اسم- واحد- مذکر- تېزرفتاری- چالاکی- سدی- تېزی- چستی- جلتی- تېز تګ-

ګړندی:(ګۀ-ړن-دی)اسم صفت- مؤنث- دَ ګړندے مؤنث- وګورئ ګړندے-

ګړندی:(ګړن-دی)اسم- واحد- مؤنث- چرمبکی- هغه کربوړے چې پهٔ کوروټو کښې ژوند کوی- ګړندے-

ګړندے:(ګۀ-ړن-دے)صفت- (۱)تېز تلونکے- تېز رفتار- (۲)چُست و چالاک- تکړه- چابک- مؤنث ګړندی-

ګړندے:(ګړن-دے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ګړندی-

ګړنګ:(ګۀ-ړنګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)لویه کنده- (۲)دَ دریاب پهٔ غاړه لوئ کمر- (۳)ډېر لوړ بېوال- ګړنګه- جمع ګړنګونه-

ګړنګ:(ګړنګ)اسم- واحد- مذکر- دَ پوزې غلیظه ماده- دَ پوزې غلاظت- ګرینګ- خرمت- ګرمېزه- دَ پوزې اُبهٔ- دَ سترګو اُبهٔ-

ګړنګن:(ګړنګ-ګن)صفت- مذکر- هغه څوک چې پوزه یې مُدام دَ ګند نه ډکه وی- هغه څوک چې هر وخت یې پوزه بهېږی- خنپاء ګرمېزن- ګړنګور- ګړنګوش- مونث ګړنګنه-

ګړنګنه:(ګړنګ-ګۀ-نه)صفت- مؤنث- وګورئ ګړنګن-

ګړنګور:(ګړنګ-ګه-ور)صفت- مذکر- وګورئ ګړنګن-

ګړنګوش:(ګړنګ-ګوش)صفت- مذکر- وګورئ ګړنګن- مؤنث ګړنګوشه-

ګړنګه:(ګۀ-ړنګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ګړنګ-

ګړنګین:(ګۀ-ړنګ-ګین)صفت- مذکر- لوړدنګ- هسک- ډېر زیات هسک- مؤنث ګړنګینه-

ګړنګینه:(ګۀ-ړنګ-ګي-نه)اسم صفت- مؤنث- وګورئ ګړنګین-

ئ"(ځی-رِی)، ې"(صې-ره-وی)، ی"(پیا-لي)، ے"(تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

کړو:(کَ-ړو)اسم- واحد- مذکر- وګورئ: کړاکو-

کړوانجو:(کړ-وان-جو)اسم- وګورئ: کړمانج-

کړوار:(کړ-واړ)صفت- ارت- ویر- فراخ- ازاد- کشاده- مونث کړوازه-

کروب:(کروب)تابع مهمل- دَ کرب تابع مهمل- وګورئ: کرب-

کړوب:(کَه-ړوب)اسم- واحد- مذکر- (۱)اَبۀ- خته- کړوبے- خاورینې اَبۀ-

کړوبړ:(کَه-ړو-بړ)اسم مرکب- مذکر- خبرې اترې- کړه بړه- سره خبرې اترې کول-

کړوبن:(کَه-ړو-بَن)اسم صفت- مذکر- هغه څوک چې په سینه یې مُدام بلغم پروت وي- بلغمی- مؤنث کروبنه-

کړوبے:(کَه-ړو-بے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ: کړوب ۲-

ړوبے:(کَه-ړو-بے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ ګړې شربت- (۲)پر خوږ څیز-

کړوخه:(کړو-خه)اسم- واحد- مؤنث- بې پیُو غولانځه- هغه غولانځه چې پیُ پکښې نۀ وي-

کړول:(کَه-ړ-وَل)مصدر متعدي- پۀ خبرو راوستل- دَ چا نه خبرې ویستل-

کړولے:(کَه-ړ-وَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ: کړول-

کړون:(کَه-ړ-وَن)حاصل مصدر- وګورئ: کړول-

کړونکے:(کَه-ړ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ: کړول-

کړونګ:(کَه-ړ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ: کړول-

کړونه:(کَه-ړ-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ: کړول-

کړونج:(کړ-ونج)اسم- واحد- مذکر- د لرګیو جوړ کړے شوے دَ منګیو دَ ایښودو ځاې- کړماچے- کړمچے-

کړونجی:(کړ-ون-جی)اسم- مؤنث- وړوکے کړونج-

کړونګه:(کړ-ونګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- ابشار- جړوبے-

کړوهېدل:(کړو-هې-دل)مصدر لازم- وګورئ: کړوهېدل-

کړویونے:(کَه-رو-یو-نے)صفت- مذکر- ویونکے- ویونے- کړېدونکے- مؤنث کړویونې-

کړویږه:(کړ-وي-ږه)حاصل مصدر- وګورئ: کړویږل-

کړوی:(کړ-وی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: جیړی-

کړه:(کَه-ړه)اسم- واحد- مؤنث- کنډه- بړله- خمڅ- پوغل- جمع کړې-

ګړه:(ګَ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- د ګنې له شربته جوړېدونکې خوږه ماده چې پۀ چایو یا شربت وغیره کښې استعمالیږي شي- ګوړه-

کړه بړه:(کَه-ړه-بَه-ړه)اسم مرکب- مؤنث- کړوبړ- کړبړ-

کړه کړے:(کَه-ړه-کَه-ړے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ: کړکړکے-

کړهار:(کړ-هار)اسم- جمع- مذکر- خبرې اترې- کړوبړ- کړبړ-

کړهل:(کړ-هل)اسم- واحد- مذکر- یو بوټے چې ګل نیسي- ګل عجائب-

کړهل:(کړ-هل)اسم- واحد- مذکر- پول- مېل- مټکے- بالټے- باټے-

کړیال:(کړ-یال)اسم- واحد- مذکر- لویه کړی چې دېوال ته ځړېندولے شي- کاړیال-

کړیالے:(کړ-یا-لے)صفت- واحد- مذکر- ساعت ښیونکے- ساعت ښیونے- هغه سړے چې د وخت ښودلو وظیفه لري-

کړیندے:(کړین-دے)اسم- واحد- مذکر- چیچړه غوښه- مانده غوښه- چنجړې- کینکړی- لیبړی-

کړیکے:(کَه-ړي-کے)اسم تصغیر- واحد- مذکر- دَ کړے اسم تصغیر- وړوکے منګے یا کړے- منګوټے-

کړی کش:(کَه-ړی-کَش)اسم- واحد- مذکر- جېل کښې دَ کړی پۀ ذریعه دَ ګشت کولو نظام-

کړینګ:(کړینګ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ: کړنګ-

کړینکے:(کړینګ-کے)اسم- واحد- مذکر- جرس- وړوکے ګونګرو-

کړیوال:(کَه-ړي-وال)اسم- واحد- مذکر- هغه سړے چې دَ کلیو باڼهو نه شاړونو ته پێ راوړي- کوجر- ګجر- مؤنث کړیواله- جمع کړیوالان-

کړې بړې:(کَه-ړې-بَه-ړې)اسم- جمع- مؤنث- وګورئ: کړه بړه-

کړیچ:(کَه-ړیچ)اسم- واحد- مذکر- سخته لاره- داسې لاره چې تګ راتګ پرې ګران وي-

کړیچی:(کَه-ړي-چی)اسم- واحد- مؤنث- دَ بوټی دَ بنځولو دَ پاره پۀ زمکه کښې وړه کنده- کوغالے-

کړېدل:(کَه-ړې-دَل)مصدر لازم- (۱)خبرې کول- کړه بړه کول- (۲)کړوېدل- کړوېدل- ګړغ ګړوغ کول-

کړېدلے:(کَه-ړې-دَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ: کړېدل-

کړېدن:(کَه-ړې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ: کړېدل-

کړېدنه:(کَه-ړې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ: کړېدل-

کړېدنګ:(کَه-ړې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ: کړېدل-

کړېدونکے:(کَه-ړې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ: کړېدل-

ګړی:(ګَه-ړی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)دَ وخت ښودلو آله- ګنټه- (۲)ساعت- دَ وخت حصه-

کړی:(کَه-ړی)اسم- مؤنث- چشمه- چینه-

کړی:(کَه-ړی)اسم- واحد- مؤنث- حلقه- شپول- هاله- کړدی-

کړی:(کَه-ړی)اسم- واحد- مؤنث- پۀ کانی کښې ژور جوغړے چې دَ باران اَبۀ پکښې ودرېږي- (۲)پۀ سرباب کښې ژور غار-

کړے:(کَه-ړے)لاحقه- د ځنو اسمونو پۀ اخره کښې راتلو سره دَ فاعلیت معنٰی پیدا کوي- لکه مېنځکړے- ژرنده کړے وغیره-

کړے:(کَه-ړے)اسم- واحد- مذکر- منګے-

کړے:(کَه-ړے)اسم- واحد- مذکر- برج- شینګړی- اټاری- بورجل-

کز:(کز)اسم- واحد- مذکر- (۱)درې فټه- دَ ناپ یوه اندازه- (۲)هغه سیخ چې د ټوپک پۀ شپېلۍ کښې ننښتې توقه (کوکه) پرې راوېستے شي- جمع کزونه-

کز:(کز)اسم- واحد- مذکر- یو وړن غشے چې دواړه سرونه یې تېره او مېنځ

www.pukhto.net

ي پېږ او بې لیندي ویشتل کېږي- (۲)دام- لومه-

گز :(گز)اسم- واحد- مذکر- (۱)د یوې ونې نوم- (۲)د لرگې اله چې د اوږو پېره پرې هوارولے شي-

گزابي :(گه-زا-بي)صفت- مؤنث- بې وقوفه- کم عقله- لوړه دنګه بې عقله ښځه-

گزار :(گ-زار)اسم- واحد- مذکر- گورار- غوزار- پېب- درب- غرب- (۲)وار- خل- کرت-

گزارش :(گ-زا-رش)اسم- واحد- مذکر- (۱)عرض- درخواست- (۲)بیان-

گزارل :(گ-زا-رل)مصدر متعدی- (۱)ادا کول- پوره کول- ترسره کول- (۲)غزارل- غړزول- ارتاوول- گوزارول-

گزارلے :(گ-زا-ر-ملے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ گزارل-

گزارن :(گ-زا-رن)حاصل مصدر- وګورئ گزارل-

گزارنګ :(گ-زا-رنګ)حاصل مصدر- وګورئ گزارل-

گزارنه :(گ-زا-ر-نه)حاصل مصدر- وګورئ گزارل-

گزارول :(گ-زا-ر-مول)مصدر متعدی- گزارول- غړځول- په درز راغرځول- گوزارول- ارتاوول- لرې کول- لرې ویشتل- گزارل-

گزارون :(گ-زا-ر-مون)حاصل مصدر- وګورئ گزارول-

گزارونکے :(گ-زا-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ گزارل-

گزارونکے :(گ-زا-ر-مون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ گزارول-

گزارونګ :(گ-زا-ر-مونګ)حاصل مصدر- وګورئ گزارول-

گزارونه :(گ-زا-ر-مو-نه)حاصل مصدر- وګورئ گزارول-

گزاره :(گ-زا-ره)اسم- واحد- مؤنث- گوزاره- (۱)گزران- وخت اړونه- ورځې شپې تېرونه- گزراوقات- ساعت تېرے- (۲)زغم- صبر-

گزاری :(گه-زا-ری)اسم- جمع- مذکر- وګورئ گڅاری-

گزارېدل :(گ-زا-رې-دل)مصدر لازم- پرېوتل- گوزارېدل- غړځېدل- ارتاوېدل- اړتاوېدل- لرې کېدل-

گزارېدن :(گ-زا-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ گزارېدل-

گزارېدنګ :(گ-زا-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ گزارېدل-

گزارېدنه :(گ-زا-رې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ گزارېدل-

گزارېدونکے :(گ-زا-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ گزارېدل-

گزارېده :(گ-زا-رې-ده)حاصل مصدر- وګورئ گزارېدل-

گزاف :(گه-زاف)اسم- واحد- مؤنث- (۱)لاپې- فضول خبرې- بکواس- (۲)ډېر زیات-

گزانه :(گه-زا-نه)اسم- د گزونو په حساب- گزکونه-

گزبره :(گز-بره-ره)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم ریښمینه کپړه- قناوېز- جمع گزبرې-

گزټ :(گه-زټ)اسم- واحد- مذکر- اطلاع نامه- هغه اخبار یا خبر چې پکښې سرکاری اعلان وي- (م- انګریزی)-

گزر :(گ-زر)اسم- واحد- مؤنث- (۱)لاره- (۲)گودر- (۳)عمل دخل- رسایی- لاس رسېدنه- (۴)گزران- تېرېدنه-

گزران :(گز-ران)اسم- واحد- مذکر- وخت اړونه- وخت تېرونه- یوځای ژوندنه- ساعت تېرے- گوزاره- زیست- وخت تېرے-

گزرانېدل :(گز-را-نې-دل)مصدر لازم- تېرېدل- چلېدل- اوړېدل-

گزرانېدن :(گز-را-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ گزرانېدل-

گزرانېدنګ :(گز-را-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ گزرانېدل-

گزرانېدنه :(گز-را-نې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ گزرانېدل-

گزرانېده :(گز-را-نې-ده)حاصل مصدر- وګورئ گزرانېدل-

گزک :(گه-زک)اسم- واحد- مذکر- پارسوب- د زخم اُبه پېتونه- (۲)صفت- پرسېدلے- نوړن-

گزک :(گه-زک)اسم- واحد- مذکر- هغه څیز چې د انیمو یا شرابو څښلو نه پس د خلې خوند بدلولو د پاره خوړے شي- (۲)یو قسم مټانی- خواږه-

گزکه :(گه-ز-که)اسم- واحد- مؤنث- د وړو مرغیو نیولو د پاره د لرگې کوړکی- پړکه-

گزکومبت :(گز-کوم-بت)صفت- وګورئ گزکومبد-

گزکومبد :(گز-کوم-بد)صفت- کنډر- وران- ختم- گزکومبت-

گزلک :(گز-لک)اسم- واحد- مذکر- چاړه- چړه- کړلک-

گزلکه :(گز-ل-که)اسم- واحد- مؤنث- چاړه- چړوکی- کړلکه-

گزن :(گ-زن)اسم- واحد- مذکر- د رېږدو مرض- هغه مرض چې بدن پکښې رږېږي-

گزند :(گه-زند)اسم- واحد- مذکر- درد- تکلیف- نقصان-

گزنده :(گه-زن-ده)اسم صفت- چیچونکے- ټک وهونکے-

گزول :(گه-ز-مول)مصدر متعدی- گزکول- گز سره ناپ کول- په گز کول- (۲)اندازه لګول- (۳)غزول- خوروول- وړدول-

گزون :(گه-ز-مون)حاصل مصدر- وګورئ گزول-

گزونکے :(گه-ز-مون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ گزول-

گزونګ :(گه-ز-مونګ)حاصل مصدر- وګورئ گزول-

گزونه :(گه-ز-مو-نه)حاصل مصدر- وګورئ گزول-

گزیده :(گه-زی-ده)اسم مفعول صفت- واحد- مذکر مؤنث- خوړلے شوے- ټک وهلے شوے- مارخوړلے-

گزیده :(گه-زی-ده)اسم مفعول- چاڼ شوے- منتخب کړے شوے- کتلے شوے- چوڼ کړے-

گزیر :(گ-زیر)اسم- واحد- مذکر- (۱)مدد- چاره- علاج- (۲)صبر- تحمل-

گزین :(گه-زین)اسم مفعول صفت- (۱)خوښ کړے شوے- (۲)کتلے شوے- (۳)دا لفظ د بعضو نامو سره د لاحقې په طور استعمالیږي- لکه خلوت گزین، پناه گزین وغیره-

گزېدل :(گه-زې-دل)مصدر لازم- (۱)گزکېدل- گز سره ناپ کېدل- په گز

ئ' (ځی-ول)، ي'(هې-ره-ول)، ی'(یا-لي)، ې'(تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

کېدل- (۲)اندازه کېدل-
گزېدن:(که-زي-دن)حاصل مصدر- وګورئ گزېدل-
گزېدنګ:(که-زي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ گزېدل-
گزېدنه:(که-زي-دنه)حاصل مصدر- وګورئ گزېدل-
گزېدونکے:(که-زي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ گزېدل-
گزېدۀ:(که-زي-دۀ)حاصل مصدر- وګورئ گزېدل-
گزره:(گز-ره-ره)اسم- واحد- مؤنث- تمس- حرکت- ما احسته-
گزکے:(گز-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ دماره-
گزوړ:(گز-وړ)اسم صفت- مذکر- کږوږ- کږوږه- گزوړه- گزه وړه-
گڅي:(گڅ-څي)متعلق فعل/صفت- کاږه- په ترڅ- په پېره- د سترګو په کټ کېږي-
گڅے:(گه-څے)اسم صفت- (۱)جوتي غوښے چي د قلبي یا د کاني د پاره تیار شي- (۲)بلد- رضا-
گړ:(گړ)اسم صفت- هغه څوک چي ویره ئ ګډه وډه وي- یعني نیمه توره او نیمه سپینه وي- (۲)نیمه پخه شوي مېوه- (۳)هغه څوک چي په عوږونو ئ لوئ وېښته وي- (۴)برګ- ابلق- (۵)سابق- (۲)یو قسم مرغ-
گړ:(گړ)اسم- واحد- مذکر- د مچو جاله- د مچو کېين- جمع کړونه-
گړلک:(گړ-لک)اسم- واحد- مذکر- وګورئ گړلک-
گس:(گس)صفت- کیڼ- چپ- د ښي ضد- د انساني زړۀ خوا ته اړخ-
گسار:(گ-سار)اسم فاعل صفت- لرې کونکے- (۲)دا لفظ د لاحقې په طور د نورو اسمونو سره په یوځاي کېدو اسم فاعل جوړي لکه غمګسار-
گسان:(گه-سان)اسم- واحد- مذکر- مرېه- مچنه-
گستاخ:(گس-تاخ)اسم صفت- واحد- مذکر- بې ادبه- بې شرمه- کلک سترګے- سپوږنے- وچ سترګے- بې حیا- مؤنث گستاخه- (م- فارسي)-
گستاخانه:(گس-تا-خا-نه)متعلق فعل- د گستاخي سره متعلق- وګورئ گستاخي-
گستاخي:(گس-تا-خي)اسم- واحد- مؤنث- بې ادبي- سرکشي- بې شرمي- بې حیائي- سپورږبي-
گستر:(گس-تر)اسم صفت- (۱)خپور- غوړېدلے- خور- وېر- (۲)خوروونکے- وېروونکے- (م- فارسي)-
گستره:(گس-ته-ره)اسم- واحد- مؤنث- غکګی- د غوا ورو‌کي سخي چي خوانېدو ته نژدې وي-
گسکه:(گس-که)اسم- واحد- مؤنث- کټمل- منکوړ- منګور-
گسه:(گه-سه)اسم- واحد- مؤنث- تپله- بېچکه- دیکه- ټکر- ټېل- (۲)نقصان ورکونه- دوکه-
گسیا:(گس-یا)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)سوده- حالص- بېخي- بالکل- (۲)اکیلے شوے- مولے شوے- مسلے شوے- (۳)سره نښتے- وروروي-
گسے:(گ-سے)اسم صفت- واحد- مذکر- په گس لاس باندي کار کونکے- هغه څوک چي زیات کار روزګار په گس لاس کوي- چپ لاسے-
گشت:(گشت)اسم- واحد- مذکر- (۱)چکر- دور- (۲)پېره- څوکي- (۳)سېل- ګرځېدنه- (م- فارسي)-
گشتي:(گش-تي)صفت- د گشت سره متعلق- د گشت سره تړلے- وګورئ گشت-
گشتي:(گش-تي)اسم صفت- واحد جمع- مؤنث- (۱)وګورئ شلته- (۲)متېزه- وګورئ گشتے-
گشتے:(گش-تے)صفت- مذکر- (۱)گشت کونکے- ګرځېدونکے- چکر وهونکے- (۲)اواره ګرد- بې ځاندي ګرځېدونکے- مؤنث گشتي-
گش نیخ:(گش-نیخ)اسم- واحد جمع- دنیا- دانیا- دنیا-
گښت:(گښت)اسم- واحد- مذکر- (۱)عمل- استعمال- کار- (۲)سېل- دور- دوران-
گښته:(گښ-ته)اسم- واحد- مؤنث- گښد- گښت-
گفت:(گفت)اسم- واحد- مذکر- (۱)خبره- لفظ- وېنا- (۲)ازار- خبره- ګوت- کډ-
گفتار:(گف-تار)اسم- واحد- مذکر- (۱)خبرې- وېنا- گفتګو- خبرې اترې- (۲)په مرکباتو کښي د ویونکي معنی ورکوي- (م- فارسي)-
گفتګو:(گف-تف-گو)اسم- واحد- مذکر- خبرې اترې- وېنا- بیان- گفتار- (م- فارسي)-
گفت و شنید:(گفت-و-ش-نید)اسم مرکب- مذکر- خبرې اترې- بحث- ذکر اذکار- وېیئه اورېدنه-
گک:(گک)علامت- د تصغیر علامت- لکه سترګک-
ګکر:(ګ-کر)اسم صفت- مضبوط- تکړه- قوي-
گکړے:(گک-ړے)اسم- واحد- مذکر- جزغالے- کبکړے- جزغاله- ززغاله- ژغولے-
گکم:(گ-کم)اسم- واحد- مذکر- وګورئ بلور-
گگ:(گگ)اسم- واحد- مذکر- کېین- د مچو جاله- د سرو بمبرو کور- دومبکے- د مچیو کور- (۲)ګېباکه- (۳)پړ- پانچه- (۴)د خېټي پړینګ- ... عموے-
ګګر:(گه-گر)اسم- واحد- مذکر- لوهار- اهن ګر- لوزار-
ګګر:(گه-گر)صفت- واحد- مذکر- زور آور- تکړه- قوتناک- تندرست- ګرب-
ګګر:(گه-گر)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ګکره-
ګګروخه:(ګګ-رو-خه)اسم- واحد- مؤنث- د تبې له وجې رېږدنه- رېږ- رپ ربي-
ګګره:(گګ-ره)اسم- واحد- مؤنث- کانږه شکه- هغه شګه چي نري نري کاني پکښي وي-
ګګره:(ګګ-ره)اسم- واحد- مؤنث- یو مخصوص قسم ارت او لوئ قمیص- ګګر-
ګګړے:(ګګ-ړے)اسم- واحد- مذکر- عوز- عوز- اکړ- آخروت-

www.pukhto.net

ککړ:(کـ-کړ)اسم صفت- واحد- مذکر- کاکړ- زوړ- بوډا- بوډاـ بوړخ- ضعیف- مؤنث ککړه-

ککړ:(کـ-کړ)اسم- واحد،جمع- مذکر- ګوګړ- ګـندهک- یو کیمیائی څیز- بارود-

ککړ:(کـ-کړ)اسم- واحد- مؤنث- څرمن چي څۀ پټ پرې هم وي- ګګړه- د څرمن پوستکے- پوټ- پوټکے- ګوډے چي نوے وېستل شوے وي-

ککړوزه:(کک-ړو-زه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ګرېوزه- ککړوخه-

ککړه:(کک-ړه)اسم صفت- واحد- وګورئ ککړ ۲-

ککړے:(کک-ړے)اسم- واحد- مذکر- بوګړی- سره کړي وازده- چنیا- بکړی-

ګل:(ګل)اسم- واحد- مذکر- غټه غټه ولی- ژلی-

ګل:(ګل)اسم- واحد- مذکر- (۱)سپېرديٍ شوې غټي- (۲)معشوق- (۳)پۀ وجود د داغېدلو نښه- (۴)د پېوی د بانی سورېدلے سر-

ګل:(ګل)اسم- واحد- مذکر- د ستړګو هغه بیماری چي د سترګې ګکی سپينه شي او نظر تري ختم شي-

ګل:(ګل)اسم- واحد- مذکر- خاوره- حبه-

ګل:(ګل)اسم- واحد- مذکر- خندق-

ګلاب:(ګـ-لاب)اسم- واحد- مذکر- (۱)یو مشهور بوټے چي عموماً سرۀ ښائسته ګلونه نیسی- (۲)د دغې بوټي ګل چي ورته د ګلونو بادشاه وئیلے شي- ګلاپ- نباتاتی نوم روزا موس چېټا ROSA MOSCHATA -

ګلابتون:(ګـ-لاب-تون)اسم- واحد- مذکر- د سرو زرو تار- زرین تار-

ګلاب جامن:(ګـ-لاب-جا-من)اسم- واحد جمع- مذکر- (۱)یو قسم جامن چي د ګلاب غندی خوشبوئي تري حیژی- (۲)یو قسم غټدی غندی مټائي-

ګلابو ماتابو:(ګـ-لا-بو-ما-تا-بو)اسم- واحد- مؤنث- یوه لوبه- میرغلے- میرغوالم- میرغوئے-

ګلابي:(ګـ-لا-بي)اسم صفت- (۱)ګلاب رنګے- د ګلاب پۀ شان رنګ لرونکے- (۲)ښائسته- حسین-

ګلابے:(ګـ-لا-بے)اسم- واحد- مذکر- نائی- حجامت کونکے- خلیفه-

ګلاپ:(ګـ-لاپ)اسم- واحد- مذکر- ګلاب-

ګلاته:(ګـ-لا-ته)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ګلاله-

ګلارکین:(ګلار-کین)صفت- سخت- کلک- درشت-

ګلاس:(ګـ-لاس)اسم- واحد- مذکر- د اُوبو څښلو سلوری یا د شیشې جوړ اوږد لوښے- ګیلاس- جمع ګلاسونه- (م- انګریزی)-

ګلاسګوټے:(ګـ-لاس-ګو-ټے)اسم تصغیر- واحد- مذکر- ګیلاسګوټے- ګیلاسکے- وړوکے ګلاس-

ګلاله:(ګـ-لا-له)اسم- واحد- مؤنث- کولاٸی- کوتالی- پخه شوې سره بېره- ګلاته-

ګلالي:(ګـ-لا-لي)اسم صفت- واحد- مؤنث- وګورئ ګلالے-

ګلالے:(ګـ-لا-لے)صفت- واحد- مذکر- (۱)د ګل پۀ شان- (۲)ښائسته- شکلے- حسین- ګلرخ- ګلفام- ګلپام- مؤنث ګلالي-

ګل اندام:(ګل-ان-دام)صفت- د ګل پۀ شان نرم او نازک بدن لرونکے- (۲)معشوق- محبوب-

ګلانه:(ګـ-لانه)اسم- واحد- مؤنث- هغه رقم چي چا له د ښۀ خبر پۀ راوړو ورکړے شي- زېرے-

ګل بادام:(ګل-با-دام)اسم- واحد- مذکر- د باز لۀ کورنی څخه یو ذات-

ګل بام:(ګل-بام)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ګل بانګ- (م- فارسی)-

ګل بانګ:(ګل-بانګ)اسم صفت- خوش اوازه- (م- فارسی)-

ګل بېرے:(ګل-بې-رے)اسم- د زنانو پۀ پړونو کېدونکي یو قسم ګلکاری-

ګلمخور:(ګل-مه-خور)اسم- مذکر- هغه بوټے چي د توت ماه د زیاتولو د پاره پۀ چیلم کښي څښلے شي-

ګل بدن:(ګل-به-دن)صفت- د ګل پۀ شان بدن لرونکے- (۲)معشوق- محبوب- (۳)یو قسم کپړه- د پخواني زماني د یو ښائسته ټوکی نامه-

ګل پام:(ګل-پام)صفت- وګورئ ګلفام-

ګل پانیزک:(ګل-پا-نی-زک)اسم- مذکر- یو خودرو ساګ- نباتاتی نوم CHENOPODIUM ALBUM-

ګل پلورونکے:(ګل-پلو-رون-کے)اسم- واحد- مذکر- ګل خرڅونکے- جمع ګل پلورونکي-

ګلپوش:(ګل-پوش)اسم مفعول،صفت- پۀ ګلونو کښي پټ شوے- (۲)د ګلونو پۀ شان لباس اغستے-

ګلپی:(ګل-پی)اسم- واحد- مذکر- کوپی- ګل کوپی-

ګلتراش:(ګل-تراش)اسم- واحد- مذکر- هغه قینچي چي د پېوی باتی پرې حوروی-

ګل تنبی:(ګل-تم-بی)اسم- واحد،جمع- مؤنث- د اسپې پۀ مری کښي تړلي شوې پټی-

ګل توت:(ګل-توت)اسم- واحد- مذکر- هغه د غټو پاڼو توت چي د کاغذ پۀ جوړېدو کښي استعمالیږی- نباتاتی نوم بروسونېټی پاپی ریفېرا BROUSSONETIA PAPYRIFERA-

ګلتون:(ګل-تون)اسم- واحد- مذکر- ګلستان- ګلزار-

ګل ته پراز:(ګل-ته-پراز)اسم- واحد- مذکر- نورګلے- مارکبی- نمرپرست- نورپرست- کاپرګل-

ګلټ:(ګـ-لټ)اسم- مذکر- زیړ رنګ لرونکے یو دهات- ګیلټ-

ګلټس:(ګل-ټس)اسم- واحد- مذکر- وګورئ جبری- هغه تسمې چي پتلون یا جرابي وربا‌ندې تړلے شي-

ګلتول:(ګـ-لـ-ته-ول)مصدر متعدی- زړل- زروول- ملمع کول-

ګلتون:(ګـ-لـ-ته-ون)حاصل مصدر- وګورئ ګلتول-

ګلتونکے:(ګـ-لـ-ته-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ګلتول-

ګلتونګ:(ګـ-لـ-ته-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ګلتول-

ګلټونه:(ګـ-لـۀ-ټـه-وـ-نـه)حاصل مصدر- وګورئ ګلټول-

ګل جړی:(ګل-ج-ړی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- ګل خړی-

ګل خړی:(ګل-خه-ړی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- نهه- خړے- کهاړ-

ګلچ:(ګـ-لچ)اسم- واحد- مذکر- (۱)توبره- تراوه- حورځے- (۲)دَ ښنیا کولی پهٔ لوبه کښې پهٔ ښنیا دَ کولی وهلو سره دَ وهونکی اواز- (اسم صوت)-

ګلچهره:(ګل-چه-ره)صفت- د ګل پهٔ شان مخ لرونکے- ګل څېره- ګل رنګ-

ګلچین:(ګل-چین)اسم فاعل- (۱)ګلونه شوکونکے- (۲)مالی- باغوان-

ګل څېره:(ګل-څېره)صفت- واحد- مذکر- وګورئ ګل چهره-

ګلخانه:(ګل-خا-نه)اسم- واحد- مؤنث- هغه مکان چې ورې او چت يې دَ شیشې وی او دَ ښنو بوټو دَ تازه ساتلو دَ پاره پهٔ کلر راوستے شی- دَ ګلونو ساتلو ځائ- کوکې خونه-

ګلخرینکه:(ګل-خرینک-که)اسم- واحد- مؤنث- یوه مشهوره مرغئ چې دَ اموخته کولو او لوې خوارۍ نه پس خبرې هم کوی- ښارو- ښاروني- مېنا-

ګلخن:(ګل-خن)اسم- واحد- مذکر- (۱)بټئ- تنور- (۲)خشاک- خخله-

ګلخوره:(ګل-خو-ره)اسم- واحد- مؤنث- د یو بوټی نامه چې پهٔ دارو کښې پکارولے شی- سومګرے- ګرنه خورک-

ګلدار:(ګل-دار)صفت- مذکر- دَ ساده ضد- ګلونه لرونکے- ګلیالے- هغه چې ګلونه پرې جوړ کړے شوی وی- مؤنث ګلداره-

ګلداره:(ګل-دا-ره)اسم صفت- واحد- مؤنث- وګورئ ګلدار-

ګلدان:(ګل-دان)اسم- واحد- مذکر- هغه لوښے چې پکښې دَ ګلونو ګلدسته اېښودے شی- دَ ګلونو د اېښودو لوښے- مؤنث ګلدانی-

ګلدانی:(ګل-دا-نی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ ګلدان-

ګلدسته:(ګل-دس-ته)اسم- واحد- مؤنث- دَ ګلونو ګېډۍ- دَ تسما قسم راشوکولو شویو ګلونو غنچک- چړی-

ګلدم:(ګل-دم)اسم- واحد- مذکر- بلبل- کاکړا-

ګلدوزی:(ګل-دو-زی)اسم- واحد- مؤنث- بوټی کونه- پهٔ کپړه بوټی جوړونه- ګل کاری- پیاځله- مرېک- کشیده-

ګلو:(ګلو)اسم- واحد- مذکر- خړیلے سر- بې وېښتو سر- کټا سر- هغه سر چې وېښتهٔ ترې خرولے شوی وی-

ګلړانګ:(ګل-ړانګ)صفت- دَ سپیو یو قسم چې د جنګ د پاره ساتلے سی-

ګل راني:(ګل-را-نی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ قرآن پانه-

ګلرخ:(ګل-رخ)صفت- ګل مخے- دَ ګل پهٔ شان مخ لرونکے- ګلفام- ښائسته- ګلرو- ښکلے- حسین- پېړ مخے- ګلالے- (۲)معشوق- محبوب- مؤنث ګلرخه- جمع ګلرخان-

ګلرنګ:(ګل-رنګ)صفت- مذکر- (۱)دَ ګل پهٔ شان رنګ لرونکے- (۲)ښائسته- ښکلے- حسین- مؤنث ګلرنګه-

ګلرو:(ګل-رو)صفت- وګورئ ګلرخ-

ګلزار:(ګل-زار)اسم- واحد- مذکر- د ګلونو ځائ- باغ- ګلشن- هغه ځائ چرته چې ګلونه ولاړ وی- ګلستان- ګلتون- کوکیانه-

ګل زیری:(ګل-زیه-ړی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ګل خړی-

ګل ړلی:(ګل-ړلی)اسم- واحد- مؤنث- هغه غټه غټه ړلی چې پهٔ تیار یعنی ګلونه نیولی فصل راوریږی او فصل خرابوی-

ګلستان:(ګـ-لس-تان)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ګلزار-

ګلسرین:(ګـ-لس-رین)اسم- مذکر- یو قسم رنګدار اُبهٔ دارو-

ګل شګ:(ګل-شګ)اسم- واحد- مذکر- یو غرنیز ګل- ګلاشګ-

ګل شکر:(ګل-شه-کر)اسم- جمع- مذکر- دَ ګلونو عرق- ګل قند- ګل شکره-

ګل شکره:(ګل-شه-کـره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ قمری کال دوېمه میاشت- (۲)ګل شکر- ګل قند-

ګلعذار:(ګل-ع-ذار)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ ګل پهٔ څېر- دَ ګل کلی- (۲)ډېر ښائسته- لالے-

ګلفام:(ګل-فام)اسم صفت- واحد- مذکر- دَ ګل پهٔ شان رنګ لرونکے- محبوب- مؤنث ګلفامه-

ګل نامه:(ګل-نا-مه)اسم صفت- مؤنث- ښائسته- دَ ګل پهٔ شان- ښکلې- نازکه- نازنینه- (۲)محبوبه- معشوقه-

ګل قند:(ګل-قند)اسم- واحد- مذکر- یو قسم دارو چې دَ ګلاب لهٔ پاڼو او چینو نه جوړولے شی- ګل شکر- ګل شکره-

ګلکار:(ګل-کار)اسم- واحد- مذکر- معمار- دَ مکانونو جوړولو ماهر- جمع ګلکاران-

ګل کار:(ګل-کار)اسم- واحد- مذکر- پهٔ عمارتونو دَ ګلونو جوړولو ماهر- دَ نقش و نګارۍ ماهر-

ګلکاری:(ګل-کا-ری)اسم- واحد- مؤنث- دَ عمارتونو جوړولو کسب- دَ ګلکار پېشه-

ګلکاری:(ګل-کا-ری)اسم- واحد- مؤنث- دَ ګلکار کسب- دَ بوټو او ګلونو جوړولو کار- دَ ښکلا او ښائست لهٔ پاره پهٔ یو څیز ګلونه او نقشې جوړونه-

ګل کرنه:(ګل-کـه-رـنه)اسم- واحد- مؤنث- باغواني-

ګلکتی:(ګل-کـتی)اسم- وګورئ ګلکتې-

ګلکتې:(ګل-کـتې)اسم- واحد/جمع- مذکر- ګلکتی- کالګوتی- کاړګوتی- الوول- کېوونے- کېورے وېښته- کونجې کونجې- خم راخم- تاو راتاو وېسته-

ګل ګشت:(ګل-ګشت)اسم- واحد- مذکر- دَ ګلونو سېل- دَ پسرلی سېل-

ګلګون:(ګل-ګون)اسم صفت- مذکر- (۱)ګل رنګ- دَ ګل پهٔ شان- دَ ګل پهٔ څېر- ګلفام- (۲)سُور رنګ- سُور-

ګلګونه:(ګل-ګو-نه)اسم- واحد- مؤنث- سرهٔ پوډر چې دَ سنګار پهٔ غرض پهٔ مخ پورې کولے شی- غازه-

ګلکے:(ګل-کے)اسم- واحد- مذکر- دَ غوا وړوکے بچے- خسے- خوسے-

www.pukhto.net

سخي۔

ګلګين:(ګل-ګين)اسم صفت۔ مذکر۔ هغه چې ګلونه پرې جوړ کړے شوي وي۔ ګلدار۔ منقش۔

ګل ګېدی:(ګل-ګې-ډی)اسم۔ واحد/جمع۔ مؤنث۔ غُنچه۔ ګلدسته۔

ګل ګل:(ګل-ګل)اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ ټټو۔ قړتو۔ قړتن۔

ګل ګل:(ګل-ګل)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دَ نارنج نه غټ خو دَ نارنج په شان يو قسم مېوه۔ جمع ګلګلان۔ نباتاتي نوم سټرس لېمن (CITRUS LIMON (L))۔

ګلګله:(ګل-ګَ-له)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ پکوړه۔

ګل ګوتې:(ګل-ګو-تې)اسم۔ جمع۔ مذکر۔ ګرګوتې۔ ګاړګوتې۔ کالګوتې۔ ګلګتې۔

ګلګوټو:(ګل-ګو-ټو)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)دَ خاروو يوه ناروغتيا چې پکښې ئې مرۍ بنده شي۔ (۲)دَ مرۍ غټه۔

ګل لالا:(ګـ-ل-لا-لا)اسم۔ واحد/جمع۔ مذکر۔ وګورئ ګل لاله۔

ګل لاله:(ګل-لا-له)اسم۔ واحد/جمع۔ مذکر۔ يو صحرائي ګل چې سُور رنګ لري او په مېنځ کښې ئې تور داغ وي۔

ګل لښته:(ګل-لښ-ته)اسم صفت۔ مؤنث۔ (۱)نازکه۔ نازک اندامه۔ (۲)محبوبه۔ معشوقه۔

ګل ماشې:(ګل-ما-شې)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ يو قسم بوټے چې پاڼې ئې جامو پورې نښلي۔

ګل ماله:(ګل-ما-له)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ کرماله۔ دَ لېو، پلستر يا اخېر وغېره هوارولو اوزار۔ کرماله۔ کيرماله۔

ګل مر:(ګل-مر)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ نمرګل۔ کاپرګل۔ نمرپرست۔

ګلمل:(ګل-مل)صفت۔ مذکر۔ لړلے۔ لتهلے۔ په خاورو خټو وغېره لړلے۔

ګلميا:(ګل-ميا)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ دَ کبانو دَ جال هغه خانې چې رسۍ پکښې اچولے شي۔

ګل مېخ:(ګل-مېخ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ کټه سرے مېخ۔ هغه مېخ چې په سر باندې ئې ګل شان جوړ کړے شوي وي۔ غټ سر لرونکے مېخ۔

ګلنار:(ګل-نار)اسم صفت۔ مذکر۔ (۱)سُور رنګ لرونکے۔ (۲)دَ انار دَ ګل مخفف۔ نرګسين۔ (۳)يوه وُنه چې دَ انار په شان وي خو مېوه نۀ نيسي۔

ګلنوورے:(ګلن-وو-رے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ سُور مرچکے۔ جمع ګلنووری۔

ګلو:(ګـ-لو)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)توکه۔ توقه۔ توکله۔ شتی۔ (۲)دَ کيږرۍ ګل۔ (۳)دَ کبين ګګ يا وږے۔ ورمبکے۔ هغه حصه چې پکښې کبين پروت وي۔ (۴)دَ تاش يوه پته۔ جوکر۔ غلام۔ غلو۔ دَ لسو خالو او بي بي تر منځه پته۔

ګلوبند:(ګـ-لو-بند)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)هغه دَ غاړې ګرمه پټی شان چې لۀ يخني پرې غاړه، ځټ او غوږونه بچ ساتلے کيږي۔ (۲)يو ګاڼے چې په غاړه اچولے شي۔

ګلوټه:(ګمـلو-ټه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ دَ غوښې يا دَ خاورې غټه ټکړه۔ (۲)غټه نمرۍ يا نوړۍ۔ لوی قپ۔

ګلوښته:(ګـلو-ښ-ته)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ متړکه۔ تمچينه۔ چابک۔ چابق۔

ګلوکوز:(ګلو-کوز)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ يو قسم خواږۀ دوړه دارو چې په وجود کښې دَ توان برقرار ساتولو په غرض په اُبو کښې اچولے او څښلے شي۔ ګلی کوز۔ (م۔ انګريزی)۔

ګلول:(ګـ-لـ-ول)مصدرِ متعدی۔ (۱)زور وړل۔ اور مرکول۔ (۲)زغمل۔ تحمل کول۔

ګل ولاۍ:(ګل-ولا-ۍ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ دَ ختې لاندې خاوره۔

ګلوله:(ګـملو-له)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)کيتۍ۔ وړوکے غُنډارے۔ (۲)ګلګله۔ پکوړه۔

ګلون:(ګـلـ-ون)حاصلِ مصدر۔ وګورئ ګلول۔

ګلونکے:(ګـلـ-ون-کے)اسمِ فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ ګلول۔

ګلونګ:(ګـلـ-ونګ)حاصلِ مصدر۔ وګورئ ګلول۔

ګلونه:(ګـلـ-ونه)حاصلِ مصدر۔ وګورئ ګلول۔

ګلوه:(ګل-وه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)يو ذات له مرغۍ۔ يو خاص قسم مرغۍ۔ (۲)احمق۔ بيوقوف۔ کم عقل۔ احمق)۔

ګلوی:(ګل-وی)لاحقه۔ دَ بعضو اسمونو سره په راتللو دَ حاصلِ مصدر معنیٰ پېدا کوي لکه پېژندګلوی۔ وروړګلوی وغېره۔

ګله:(ګـ-له)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)رمه۔ کنډک۔ پاده۔ مياه۔ (۲)ګوله۔ ګرمه۔ نمرۍ۔ نوړۍ۔ مړۍ۔ نواله۔ (۳)غله۔ صندوقچه يا صندوق چې دوکاندار پکښې وټک پړدي۔ (۴)مرۍ۔ غاړه۔

ګله:(ګـ-له)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ ګيله۔

ګله بان:(ګـ-له-بان)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ شپون۔ شپونکے۔ ګوواړچی۔ ګوماڼچی۔ ساروان۔ غوبه۔ اسبه۔

ګله مانه:(ګـ-له-مانه)اسم مرکب۔ وګورئ ګيله مانه۔

ګليا:(ګل-يا)صفت۔ (۱)بېر بوخ۔ خوږين۔ (۲)وېلي شوے۔

ګليخار:(ګـلي-خار)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ يو قسم سره دوائي چې دَ سترګو او خلې پخېدو دَ پاره پکارولے شي۔

ګلي پنوه:(ګـلي-پن-وه)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ پنوه ګولۍ۔ اپړۍ کاکړش۔ دَ ماشومانو هلکانو يوه لوبه۔ شوتي پنوی۔ کبچ پنوی۔ شوتي پمپک۔

ګليم:(ګـ-ليم)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وړينه کېړه۔ کمبل۔ ګدړی۔ شړی۔

ګلينه:(ګـ-لي-نه)صفت۔ مؤنث۔ ګلداره۔ چې ګلونه پرې شوي وي۔

ګلي:(ګمـلي)اسم۔ جمع۔ مؤنث۔ دَ زياتو تُرشو او ترږو څيزونو خوړلو لۀ کبله په مرۍ کښې زياتي غوښه پېدا کېدنه۔ يو مرض چې په مرۍ کښې غټې پېدا شي۔

ګلېدل:(ګـلې-دل)مصدرِ لازم۔ اور مرکېدل۔ وړلے کېدل۔ (۲)زغملے کېدل۔ برداشت کېدل۔

ګلېدن:(ګـلې-دن)حاصلِ مصدر۔ وګورئ ګلېدل۔

ی = (ښی-رل)، ې =(ضي-ر-ول)، ے =(پيا-لے)، ۍ =(تن-ډيې) تفصيل دَ پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

کلپدنګ:(کـلـي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ کلپدل-
کلپده:(کـلـي-دڼـه)حاصل مصدر- وګورئ کلپدل-
کلپدونکے:(کـلـي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ کلپدل-
کلپده:(کـلـي-ده)حاصل مصدر- وګورئ کلپدل-
کلپرک:(کـلـي-رک)اسم- واحد- مذکر- د کل دننه پاني-
کم:(کم)اسم- واحد جمع- مذکر- (۱)قلبلبن- شریش- ګومد- سریښ- (۲)وری- د عاشوبو د پاسه غوسه-
کم:(کم)صفت- (۱)الری- غائب- (۲)ضائع- توی- (۳)نه پیدا کېدونکے- ناپید- (۴)وارخطا- پرېشان-
کمارل:(کـمـا-رل)مصدر متعدی- کومارل- (۱)مقررول- په دمه کول- پاسلول- سپارل- حواله کول- (۲)لنګېدل- ننګېدل- ددکارل- (۳)ومارل- پارول- نمول- پاڅول-
کمارلے:(کـمـار-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ کمارل-
کمارن:(کـمـا-رن)حاصل مصدر- وګورئ کمارل-
کمارنګ:(کـمـا-رنګ)حاصل مصدر- وګورئ کمارل-
کمارنه:(کـمـا-ر-نه)حاصل مصدر- وګورئ کمارل-
کماروںکے:(کـمـا-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ کمارل-
کمارونے:(کـمـا-رو-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ کمارل-
کمارونے:(کـمـا-رو-نے)صفت- مذکر- (۱)مشر- د سر سړے- (۲)لار ښوونکے-
کماشته:(کـمـاش-ته)اسم- واحد- مذکر- عفه سړے چې ورته څه کار حواله کړے شوے وی- کارنده- ایجنټ- (۲)وجه- سوب- سبب-
کمان:(ګـمـان)اسم- واحد- مذکر- ګومان- (۱)خیال- اندازه- قیاس- اټکل- (۲)شک- شبه- (۳)وهم- وسواس-
کمانی:(کـمـا-نی)اسم صفت- ګومانی- (۱)خیالی- اټکلی- (۲)شکی- احتمالی- (۳)وهمی- وسواسی-
کمبت:(کم-بت)اسم- واحد- مذکر- ګمبد- منارہ- غنبزے- عمارت- کسته- کمیجه- کسته- کومبره-
کمبته:(کم-بته)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ کمبت-
کمراه:(کم-راه)صفت- مذکر مونث- (۱)لاره هېره کړے- بې لارې شوے- سوندلے- (۲)بې دینه- (۳)وړمبے- کرجېدلے-
کمنام:(کم-نام)صفت- مذکر- غیر معروف- غیر مشهور- هغه څوک چې څوک ئ نه پېژنی- ورک نومے- پوشیده- نابت-سکو-
کمنامی:(کم-نامی)اسم- واحد- مؤنث- نامعلومتیا- نامعلوم توب- پوښیدګی- غیر معروفیت- نه پېژندنه- د خلکو له پامه وتنه-
کن:(کن)اسم- واحد- مذکر- ټنګ- ټوپک- ټوپه- (م- انګریزی)-
کن:(کن)اسم- واحد- مذکر- (۱)عادت- خوئ- خصلت- (۲)خوبی- ښۀ والے- جوهر- هنر-

ګنا:(ګـنا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ګناه-
ګنانګار:(ګـنانګ-کار)صفت- وګورئ ګناهګار-
ګنانګول:(ګـنانګ-ګول)اسم- واحد- مذکر- یو قسم خودرو غرنیز پالک- ه
ګناوې:(ګـنا-وې)اسم- جمع- مؤنث- د ګناه جمع- ګناهونه-
ګناه:(ګـناه)اسم- واحد- مؤنث- جرم- خطا- غلطي- غلط کار کونه- قصور- خطائی- وبال- ګـنـا- د ثواب ضد- د مذهبی احکامو خلاف کار کونه- جمع ګناهونه-
ګناهګار:(ګـناه-ګار)صفت- مذکر- قصوروار- هغه سړے چې څۀ ګناه ئ کړی وی- (۲)د اسلام د قانون نه خلاف کار کونکے- خطاکار- په ګناه ککړ- جمع ګناهګاران-
ګنای:(ګـنای)اسم- واحد- مؤنث- په زړنده کښې د اُبو پټ کولو ځای-
ګنبته:(ګم-بته)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ګمبت-
ګنبد:(ګم-بد)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ګمبت-
ګنبدی بام:(ګم-بـدی-بـام)اسم- واحد- مذکر- د ګمبت سر- د ګمبت بام- د منارې سر-
کن پومه:(کن-پو-مه)اسم- واحد- مؤنث- شمېر پوهه- د ریاضی علم-
کنترې:(کن-ترې)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ کنتې-
کنترے:(کن-ترے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کنتې-
کنته:(کن-ته)اسم- واحد- مؤنث- کوشه- کسی-
کنتې:(کن-تې)اسم- واحد- مؤنث- اعداد و شمار- شمېره- حساب لګونه-
کنتے:(کن-تے)صفت- مذکر- چینګے- لنډے- کم قد لرونکے- منډرے- مونث کنتې-
کنتھه:(کن-تھه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)شپېته مېته- د شپېتو منټو وخت- (۲)کړی-
کنتی:(کن-تی)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم کوداله چې سخته زمکه پرې کنستلے شی- کنتې- کسترے- کنترې- کېنتے-
کنتے:(کن-تے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کسی-
ګنج:(ګـنـج)اسم- واحد- مذکر- (۱)خزانه- دفینه- ګـنجینه- مخزن- (۲)ذخیره- ګودام- (۳)بازار- مارکېټ- (۴)د فقیرانو کاسه- کچکول- (۵)د طالبانو له کورونو د وظیفې راغونډولو شکرې- (۶)د مېوې راغونډولو شکرې- (۷)د کبانو ټوکرې یا شکرې-
کنج:(کـنج)اسم- واحد- مذکر- (۱)د سر وېښته نه کېدنه- ګنجېتوب- (۲)یو مرض چې د سر وېښته پکښې توږېږی-
ګنجائش:(ګن-جا-ئش)اسم- واحد- مذکر- (۱)ځائېدنه- ځای- (۲)فائده- نفع- (۳)مقصد- حوصله- واره-
ګنجپور:(ګـنج-پور)اسم- واحد- مذکر- کوبی کبر- چنګاښ-
کنجره:(کـنج-ره)اسم- واحد- مؤنث- عاره- سرخی- پوږ-
کنجفه:(کن-جه-فه)اسم- واحد- مونث- یو قسم تاش چې پاڼې ئ د روپیو

زبر (خ-بـڼه-ره)، زوروکے (شل)، پېښ (نو-کـا-ره)، زېر (کـتـاب)، جزم (شکوني)، ه (و-ړه)، ٔ (دو-سبي-ښه)

www.pukhto.net

په شان غبری وی- اته بازی لری او په هره بازی کښې ی دولس پلې وی- ګنجیفه-

ګنجلک:(ګن-جه-لک)اسم- واحد- مذکر- غوټه- ول- ګنجه- (۱)تاوېدنه راتاوېدنه- ګنجې کېدنه- (۲)پېچیده کېدنه- ځه معامله مشکلېدنه-

ګنجلک:(ګن-جه-لک)اسم صفت- مذکر- جانجوخله- انهول پسول- ارت غورت- انجل پنجل- کنجلک- تونو- انګوچه- غټو- تاو راتاو- ګنجي- کوبحلک-

کنجه:(ګن-جه)اسم- واحد- مؤنث- غټه- ول- کنجلک- ګنجه- جومړه-

ګنجه ترغی:(ګن-جه-تر-غی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ پرو-

کنجیفه:(کن-جی-فه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ګنجفه-

ګنجینه:(ګن-جی-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خزانه- دفینه- مخزن- ګنج- (۲)میګزین-

ګنجي:(ګن-جي)صفت- تاو راتاو- ګنجلک- انجل پنجل- ګنخي- ګنجي ګنجي-

ګنجي ګنجي:(ګن-جي-ګن-جي)صفت مرکب- وګورئ ګنخي ګنخي-

ګنجی:(ګن-جی)اسم- واحد جمع- مؤنث- د تارونو یا سوترې غنډارې-

ګنجی:(ګن-جی)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)د تېوس د ذات یو مردارخور مارغه چې له تېوسه غټ وی- (۲)د ګنجی مؤنث- وګورئ ګنجې-

ګنجی:(ګن-جی)اسم- واحد جمع- مؤنث- د تیزې تېرې څوکه- د بلې تېرې ا ږ-

ګنجې:(ګن-جې)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه سړې چې په سر باندې ې وېښته نه وی- (۲)پکه- د جوارو هغه ووږے چې د شمار یو څو دانې پکښې وی- مؤنث ګنجی-

ګنجې منجې:(ګن-جې-من-جې)اسم صفت- واحد- مذکر- ګنجې- حوار- هغه ځوک چې په سر ی وېښته نه وی- (۲)بدرنګه- (۳)ناقل-

ګنخه:(ګن-خه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ګنجه-

ګنخي:(ګن-خي)اسم صفت- واحد- مؤنث- وګورئ ګنجي-

ګنخي ګنخي:(ګن-خي-ګن-خي)اسم صفت- ګنجي ګنجي- ول ول- کوت کوت- تاو راتاو- عتي عتي-

ګنجه:(ګن-جه)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم خودرو خوشبویه بوټے چې ورې ورې توربخنې دانې لری او د د دارو په طور استعمالیږی- عورئ مست-

ګند:(ګند)اسم- واحد- مذکر- (۱)ناپاکی- غلاظت- (۲)بدبوئی- بې ترتیبی- ګندګی-

ګند:(ګند)حرف عطف- کني- کوندی- کنه- ګندي-

ګند:(ګند)اسم- واحد- مذکر- ګوند- (۱)پله- جماعت- (۲)طرف- (۳)بهره جبهه-

ګندانه:(ګن-دا-نه)اسم- جمع- مؤنث- یو قسم ساګ چې د اورمتو او د اوږی په شان پاپې لری- د پخلی نه علاوه د مستو د چټنی او نور قسمه خېرونو سره هم جوړلے شی- ګندنه- ګنده هوره-

ګندبلا:(ګند-به-لا)اسم مرکب- (۱)ماوالتیا- ګند- (۲)معمولی او بېکاره څیز-

ګندخیره:(ګند-څي-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ خارښکه‌ګندخیره-

ګندک:(ګن-دک)اسم- جمع- مذکر- د معدنیاتو یو قسم- ګوګړ- ګندمک- کیکر- کیمیائی نامه سلفر 'S'-

ګندکی:(ګن-ده-کی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ګند-

ګندم:(ګن-دم)اسم- واحد جمع- مذکر- غنم- نباتاتی نوم ټریټیکم (TRITICUM) د حبل یو بوټے-

ګندم ګون:(ګن-دم-ګون)صفت- واحد- مذکر- غنم رنګ- غنم رنګے- (۲)مالګین- نمکین- هغه څوک چې تور وی خو د مخ سره ی وی-

ګندنه:(ګن-ده-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ګندانه-

ګنده:(ګن-ده)اسم صفت- (۱)ناپاک- ناولے- پلیت- (۲)بدکردار- شریر- بدفطرت-

ګنده:(ګن-ده)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم رانبه چې د ګاروی ی خوری-

ګنده:(ګن-ده)اسم- واحد- مؤنث- روږ کند- زړه حرقه-

ګنده:(ګن-ده)اسم- واحد- مؤنث- هغه غله چې استکارانو، نایانو وغیره له مس په فصل ورکولے شی- مصلانه-

ګنده:(ګن-ده)اسم- واحد- مؤنث- ګونده- د قبیلې وړه څانګه-

ګندهارا:(ګن-دا-را)اسم- واحد- مؤنث- د پېښور د علاقې پخوانی نامه-

ګنده بوټي:(ګن-ده-بو-ټي)اسم- واحد- مذکر- یو قسم تریخ خودرو بوټے چې عموماً په فصل کښې کیږی-

کیت وهل:(کیت-وه-هل)مصدر متعدی۔ تښتېدل۔ ځان وېستل۔ له منځه وتل۔ تکوهل۔

کیتي:(کی-تي)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ دنیا۔ جهان۔ عالم۔ (م۔ فارسي)۔

کیتي آرا:(کی-تي-آ-را)اسم صفت۔ مذکر۔ دنیا سازونکے۔ دنیا ښولی کونکے۔

کیتي آفروز:(کی-تي-آف-روز)صفت۔ مذکر۔ دنیا روښانه کونکے۔ (۲)انسر۔ لمر۔

کیتي افرین:(کی-تي-آف-رین)اسم صفت۔ مذکر۔ دنیا پیدا کونکے۔ الله تعالے۔

کیتي پژوه:(کی-تي-پژ-وه)اسم صفت۔ دنیا ګټونکے۔ د دنیا طالب۔

کیتي پناه:(کی-تي-پ-ناه)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ بادشاه۔

کیتي نورد:(کی-تي-نو-رد)اسم صفت۔ د دنیا سېل کونکے۔ لوی سیاح۔

کیتۍ:(کی-تۍ)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ چره۔ ګولۍ۔ د کارتوس یا بم وغیره چره۔

کیتے:(کی-تے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د تار ګوبجی۔ ګونټ۔ کوکړې۔

کیتار:(کی-تار)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ کیتار۔

کیتکے:(کیت-کے)اسم تصغیر۔ وړوکے کیتے۔

کیتکۍ:(کیت-کۍ)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وړوکے کیتے۔ ګټکے۔ وړوکے کاڼے۔

کیته:(کی-ته)اسم صفت۔ خفه۔ د غصې له وجې خاموش۔ غلے۔

کیته:(کی-ته)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ کیتے۔

کیتۍ:(کی-تۍ)اسم۔ واحد جمع۔ مؤنث۔ (۱)هغه پوښدې چې بره دواړه طرف ته د ښځې راوتلی ښوکی۔ (۲)وړوکے غنډے ځیز۔ (۲)هغه وړه غنډی لوټه چې د چلم په توپۍ کښې ایښودے شي۔ (۲)د شطرنج مهره۔ کوټ۔ کیتے۔

کیتۍ:(کی-تۍ)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ یو قسم شین بخن رنګ۔

کیتے:(کی-تے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)وړوکے غنډے کاڼے۔ کیته۔ (۲)هغه بټ بلورے یا غوز چې ور بلورۍ یا عوزان پرې ویشتے شي۔ تیک۔ (۲)د شطرنج مهره۔ کیتۍ۔ کوټ۔ جمع کیتي۔

کیچ:(کیچ)اسم صفت۔ مذکر۔ کس۔ کنکس۔ بې هوشه۔ بې ځانه؛ مؤنث کیچه۔

کیچه:(کی-چه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ د میده کړے شویو میوز دالو وغیره پوستکے چې چېولو سره سری ووځي۔ پوټل۔ پرټل۔ خوکل۔ ګیخه۔ خخبوکے۔ زو۔ ککالے۔

کیچۍ:(کی-چۍ)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ د هډوکي مغز۔ چنزے۔ چرغي۔ پوکه۔

کیخه:(کی-خه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ کیچه۔

کید:(کید)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د تېوس یو قسم د کوم په حقله چې د خلقو خیال دے چې ښهو میاشتې نر او ښهو میاشتې ښځه وي۔ نرښځے تېوس۔ کیدے۔

کیدړ:(کی-دړ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)د سپي په شکل یو ځنګلي ځناور۔ شغال۔ (۲۔ صفت)ویربدونکے۔ بزدل۔ ډرن۔ مؤنث کیدړه۔

کیدړباغ:(کی-دړ-باغ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ کچماچو۔

کیدړسنګ:(کی-دړ-سنګ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ کیدړسینګی۔

کیدړسینګ:(کی-دړ-سینګ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ کیدړسینګی۔

کیدړسینګی:(کی-دړ-سینګ-ګی)اسم۔ واحد جمع۔ مؤنث۔ یوه کلکه غټه چې د کیدړ له تندی نه وېستے شي د کومې په حقله چې دا مشهوره ده چې دا چا سره وي نو هر خواهش ئې پوره کیږي۔ کیدړسنګ۔ کیدړسینګ۔

کیدړکور:(کی-دړ-کور)اسم۔ واحد جمع۔ مذکر۔ کچماچو۔ کیدړباغ۔ انګورتوره۔

کیدړوادۀ:(کی-دړ-وا-دۀ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ په نمر کښې د باران وریدو حالت۔

کیدړه:(کی-دړه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ د کیدړ مؤنث۔ وګورئ کیدړ۔

کیدړۍ:(کی-دړۍ)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ بلونګړے۔ بلوړۍ۔ بلونګړۍ۔ د ونې د منوک په شان یو وړوکے ځناور چې د پیشو په شان وږد او په وجود ئې لوې لوې وېښتۀ وي۔

کیدے:(کی-دے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ کید۔

کید:(کد)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ کرېوان۔

ی: (ځی-ول)، ې:(ص-وه-ول)، ۍ:(ښیا-ښي)، ې:(تن-دي) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

کیر :(کیر)اسم- واحد- مذکر- صفت- (۱)نیولکے- کېرونکے- (۲)لاحقه لکه
توبه کیر- ارمان کیر-
کیران:(کي-رانْ)صفت- مذکر- وګورئ کران-
کیرګاړے:(کیرْ-ګا-ړے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ګرګاړے-
کیرګیرے:(کیرْ-ګي-رے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ګرګرے- دَ پاڼې په څیر یو
غټهِ پرزه- (۲)د کومې څرخ- ګرګرے-
کیرو:(کي-رُو)اسم- واحد- مذکر- دَ خاورې یو قسم- سره خاوره-
کیره:(کي-ره)اسم صفت- (۱)عادت- اموخته- (۲)دَ جنګ دَ پاره تیار کړے
شوے مرز- تکړه کړے شوے مېړ-
کیره:(کي-ره)اسم- واحد- مؤنث- هغه تېلي یا بوجکۍ چې اسهو- خرو وغېره
ته پکښې خوراک اېښودے شي- توبره-
کیری بیری:(کې-رې-بي-رې)اسم صفت- پرې پرې- هغه سرکې چې دَ
بیمارۍ یا څهٔ صدمې په وجه ئې مخې ته ستورې ستورې غټدې ښکارې-
کیری:(کي-رې)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ جوارو په دانه کښې نرۍ نازکه
پرده-
کیرے:(کي-رے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ کوترې مذکر- نر کونتر- کوتر-
(۲)یو قسم ساګ- نباتاتي نوم (AMNS VIDDA)-
کیزارے:(کي-زا-رے)اسم- واحد- مذکر- هغه پاتې شونې دانې چې د رشې
وُهتولو نه پس په درمند کښې پاتې شي- واشتلے- رېشتلے- کخارې-
کخارے-
کیږکه:(کیږْ-که)اسم- واحد- مؤنث- مېناء- خارو- هاروني-
کیشکے:(کیشْ-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ اجغے-
کیکړ:(کي-کړ)اسم- واحد- مذکر- یو سور رنګ لرونکے غرنیز ګل-
کیکړ:(کي-کړ)اسم- جمع- مذکر- کندک- کوکړ-
کیلاس:(کي-لاسْ)اسم- واحد- مذکر- دَ الوبالو دَ ذات یو قسم خوږه مېوه-
دَ پرونس دَ خاندان یوه ونه- ارغنحال-
کیلاس:(کي-لاس)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ګلاس-
کیلټ:(کي-لټ)اسم- واحد/جمع- مذکر- دَ سرو سپینو او زیورو په شان یو
دهات چې دَ اُسپنې کورنۍ نه زیات ورته وي-
کیله:(کي-له)اسم- واحد- مؤنث- شکوه- شکایت- ګله- شکیت- پربوت- جمع
کیلې-
کیله کوځه:(کي-له-کو-څه)اسم- واحد- مؤنث- شکوه- شکایت- ګیله مانه-
کیله ګے:(کي-له-ګے)اسم- واحد- مذکر- د غوا وړوکے نر بچے- سخے-
کیله مانه:(کي-له-ما-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ګیله کوځه-
کیله من:(کي-له-من)صفت- مذکر- هغه چې ګیله ئې وي- ګیله کونکے- ګیله
لرونکے- ګیله مند- مؤنث ګیله منه-
کیله مند:(کي-له-مند)صفت- مذکر- وګورئ ګیله من-
کینده:(کین-ده)اسم- واحد- مؤنث- هغه تکونه چې په ستن او تار کېږي
وغېره له زرکړے شي-
کېنکړے:(کېنګ-ړے)اسم- واحد- مذکر- وړوکے کنکرو- وګورئ کنګرو-
کېنکړی:(کېنګ-ړې)اسم تصغیر- کوشکرو- وړوکے کېنکړے-
کېنکړے:(کېنګ-ړے)اسم- واحد- مذکر- وړوکے کنکرو- وګورئ کنکرو-
کیني:(کي-نۍ)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ بېته-
کینیے:(کي-نے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ بلورے-
کیبیے:(کي-نېنے)اسم- واحد- مذکر- رحم- بچه دانۍ- بطن- ګېډه- د مور
په ګېډه کښې دَ ماشوم ځاے-
کیني:(کي-نۍ)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ګیرنۍ-
کیول:(کې-یو-ول)مصدر متعدي- وګورئ کېپل-
کیولے:(کې-یو-ولے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ کېپل-
کیون:(کې-یو-ون)حاصل مصدر- وګورئ کېپل-
کیونکے:(کې-یون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ کېپل-
کیونکے:(کې-یو-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ کېپل-
کیونګ:(کې-یو-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ کېپل-
کیونه:(کې-یو-ونه)حاصل مصدر- وګورئ کېپل-
کیویار:(کیوْ-یار)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ګوار ۱-
کیهان:(کي-هانْ)اسم- واحد- مذکر- جهان- زمانه-
کیېدل:(کې-یې-دل)مصدر لازم- دَ بوڼ تار تېرېدل- بوټلے کېدل- ګنډلے
کېدل- اګیلېدل- پورکېدل-
کېدنه:(کې-یې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ کېدل-
کېدونکے:(کې-یې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ کېدل-
کېدهٔ:(کې-یې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ کېدل-
کیېل:(کې-یېل)مصدر متعدي- بوڼ یا تار تېرول- بوټل- ګنډل- اګیپل-
پورکول- کیول-
کیېن:(کې-یېن)حاصل مصدر- وګورئ کېپل-
کیېنګ:(کې-یېنګ)حاصل مصدر- وګورئ کېپل-
کیېنه:(کې-یې-نه)حاصل مصدر- وګورئ کېپل-
کیبي:(کي-بي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ کېبے-
کیبے:(کي-بے)اسم- واحد- مذکر- تنګې پېنڅې لرونکې یو قسم پاجامه-
کسی- جمع کیبي-
کیپ:(کیپْ)اسم- واحد- مذکر- (۱)چاود- درز- (۲)خندق- کنده- (۳)دَ غرهٔ
په مینځ کښې تنګه لاره-
کیټ:(کیټ)اسم- واحد- مذکر- دروازه- ور- پاټک- (۲)لاره- (۳)د دوو
غرونو په مینځ کښې تنګه لاره- (م- انګریزي)-
کیټ اپ:(کیټْ-اپ)اسم- واحد- مذکر- (۱)اندازه- طرز- وضع قطع- (۲)دَ
کتاب لیک، چاپ وغېره-
کیتېس:(کي-تېس)اسم- واحد/جمع- مذکر- (۱)دَ پېړی کېږې یا ګرمنې پټي

زبر "(ح-مخ-رہ) روروکے "(شل) ، "پېښ (مو-کا-رہ) ، زېر (ر-ساب) ، جزم "(سکون) ه (ر-ړه) ، "ځ"(د-و-بي-ده)

www.pukhto.net

چې په اُس سورلی کونکے ئ په پنډيو پورې تړی- (۲)دٔ وېږ يا تارونو پټۍ چې دٔ موزې دٔ پاسه ځېژولے شي چې ښکته نهٔ خوځيږی-
کېدو:(کي-دو)اسم- واحد- مؤنث- زره لومبره-
کېدے:(کي-دے)اسم صفت- کېدی- (۱)کم عقل- احمق- بېوقوف- (۲)هغه چې دٔ خپلې ښځې دٔ ناکاره کارونو نه د خبرېدو باوجود سترګې پټوی- بېړوا- بوړا- دله- (۲)نامرد- ايجړا- خصی- (۴)بزدل- ورن-
کېدی:(کي-دی)اسم صفت- وګورئ کېدے-
کېدي خر:(کي-دی-خر)اسم صفت- ډېر غټ کم عقل- احمق- بېوقوف- کېږی خر-
کېډکی:(کي-ډه-کي)اسم تصغير- مؤنث- وګورئ کېډوری-
کېډنګ:(کي-ډنګ)اسم صفت- مذکر- وګورئ کېډو-
کېډو:(کي-ډو)اسم صفت- مذکر- ډېر خوراک کونکے- خېټو- کېډه ور- خېټه ور- کېډور- بسيارخورے- ډېرخورے-
کېډور:(کي-ډه-ور)اسم صفت- وګورئ کېډو-
کېډوری:(کي-ډو-ری)اسم تصغير- مؤنث- کېډکی- دٔ کېږی اسم تصغير- وګورئ کېږی-
کېډوړے:(کېډ-و-ړے)اسم صفت- مذکر- هغه چې کېډه ئ ډوډې وی- نهر- ډوډے- کېډوړے- جمع کېډوړی-
کېډوړے:(کېډ-و-ړے)اسم صفت- مذکر- وګورئ کېډوړے-
کېډه:(کي-ډه)اسم- واحد- مؤنث- هغه ډېرے يا ټټه چې دٔ اُس يا سنډا وغيره دٔ کېږي نه په تړانګه يا رېږه کښې دٔ اچولو په وخت راتاؤ کړے شی او وتړلے شی-
کېډه:(کي-ډه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)حبېه- نس- (۲)حمل- اُميد- اُمېند-
کېږي خر:(کي-ږی-خر)اسم صفت- وګورئ کېدی خر-
کېږی:(کي-ږی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دٔ فصل، وښو، خشاک وغيره يو خاص مقدار چې په رنډغی تړلے شوے وی-
کېږے:(کي-ږے)اسم- واحد- مذکر- هغه ملشوم چې دٔ مور په کېډه کښې وی- بوټے- سخره-
کېږے:(کي-ږے)اسم- واحد- مذکر- د خشاک، وښو يا فصل وغيره دومره مقدار چې انسان ئ په سر يا وږه وړے شی- پنډ- غوزے- بروټے-
کېر:(کېر)صفت- (۱)نښتے- ګرفتار- نيولے شوے- اړ- (۲)اخته- مبتلا- اوړېدلے- مؤنث کېره-
کېرپېر:(کېر-پېر)اسم- واحد- مذکر- (۱)خواه- دېخواه- (۲)دهوکه- دوکه- چل- فرېب-
کېرچاپېر:(کېر-چا-پېر)متعلق فعل- چارچاپېر- هر طرف ته- ګرد چاپېر- کېرچاپېره-
کېرچاپېره:(کېر-چا-پې-ره)متعلق فعل- وګورئ کېرچاپېر-
کېرل:(کي-رل)مصدر متعدی- وګورئ کېرول-

کېرنی:(کېر-نی)اسم- واحد- مونث- کېډه- بچه دانی- رحم- پرين- بطن- کيبے- کيبی-
کېروان:(کېر-وان)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کرېوان-
کېروپېر:(کي-رو-پېر)متعلق فعل- کېرچاپېر- چارچاپېر-
کېرول:(کي-ره-ول)مصدر متعدی- نښلول- نيول- قابو کول- بندول- ګرفتارول- اخته کول- اړ کول-
کېرون:(کي-ره-ون)حاصل مصدر- وګورئ کېرول-
کېرونکے:(کي-ره-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ کېرول-
کېرونګ:(کي-ره-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ کېرول-
کېرونه:(کي-ره-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ کېرول-
کېره:(کي-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)احاطه- دائره- (۲)کربئ- حلقه- ولته- کېنه-
کېرېدل:(کي-رې-دل)مصدر لازم- ګرفتارېدل- نېولے کېدل- ايسارېدل- بندېدل- تړلے کېدل-
کېرېدن:(کي-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ کېرېدل-
کېرېدنه:(کي-رې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ کېرېدل-
کېرېدونکے:(کي-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ کېرېدل-
کېرېده:(کي-رې-ده)حاصل مصدر- وګورئ کېرېدل-
کېږل:(کي-ږل)مصدر متعدی- وګورئ کوږول-
کېس:(کېس)اسم- مذکر- (۱)دٔ تږوس او مائع نه علاوه د مادې هغه قسم چې نهٔ ئ معين حد وی او نهٔ حجم خو بيا هم هر قسم مکان پکولے شی- (۲)دٔ مادې دريمه حالت- (۳)دٔ سوزېدو په کار راتلونکی بخارات-
کېس:(کېس)اسم- واحد- مذکر- يو قسم لوئ لالټين چې لهٔ هوا نه پکولے شی-
کېسو:(کي-سو)اسم- جمع- مؤنث- لوئ لوئ وېښتهٔ- کمڅی-
کېښ:(کېښ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ کواښ-
کېل:(کېل)اسم صفت- مذکر- رغړېدو ته ساز- رغړېدو ته تيار-
کېل:(کېل)صفت- مذکر- زخمی- ګانګ- خوږ- ژوبل-
کېل:(کېل)اسم- واحد- مذکر- (۱)لاره- سړک- (۲)دٔ رېږي، تانګې وغيره دٔ پلونو جوړه کړې لار-
کېلری:(کېل-ری)اسم- واحد- مؤنث- (۱)برنډه- دالان- (۲)لهٔ تپولو وچت ځای-
کېلن:(کي-لن)اسم- واحد- مذکر- د مائع د پاره پکارونکے يو په ناپ لوښے چې تقريبا د دوه سوه او لسو چټاکو برابر وی-
کېلول:(کي-له-ول)مصدر متعدی- رغړول- ګرګاږے کول- ګړول-
کېلونکے:(کي-له-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ کېلول-
کېلونه:(کي-له-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ کېلول-
کېلوهٔ:(کي-له-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ کېلول-

ی- (ځی-رل)، ئ- (ځي-ره-ول)، ی- (ړپيا-لی)، ے- (تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشرمحات صفحه ۱

کېلېدل:(کې-لې-دَل)مصدر لازم- رغړېدل- کرکاږے کېدل-

کېلېدنه:(کې-لې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ: کېلېدل-

کېلېده:(کې-لې-دَه)حاصل مصدر- وګورئ: کېلېدل-

کېلی:(کې-لی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- جمع- وګورئ: کولی-

کېم:(کېم)اسم- واحد- مذکر- (۱)لوبه- (۲)د لوبې يو وار- پانۍ- (۳)د څه لوبې پوره سامان- (۴)توقه ټټاله- ګپ- (۵)سېل- تماشه- (۶)ښکار- (۷)د ښکار ځناور- (۸)کار- منصوبه- مهم-

کېمنے:(کې-مَه-نے)اسم- واحد- مذکر- کمين- ثات- بکين-

کېنته:(کېن-تَه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: کنته-

کېنتے:(کېن-تے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ: کنتی-

کېنډه:(کېن-ډه)اسم- واحد- مؤنث- کونډی- کونډی- د ځنګانه سترګه-

کېنډه:(کېن-ډه)اسم- واحد- مؤنث- د سنوا په شان يو ځناور چې د پوزې د پاسه ئې ښکر وی او ښرمن ئې ډېره مضبوطه وی چې ډالونه ترې جوړولے شی- ګېنډے-

کېنډے:(کېن-ډے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ: کېنډه ۲-

کېنګ:(کېنګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)ټولے- پله- (۲)د مجرمانو پله- (۳)هغه الی کومې چې يو بل سره لګېدلې وی او يوځائې کار کوی-

کېنه:(کې-نَه)اسم- واحد- مذکر- وګورئ: کېره-

کېنه:(کې-نَه)اسم- واحد- مؤنث- اصل- ګټه- ګانه-

کنه:(کې-نَه)اسم- واحد- مؤنث- کالے- پسول-

کی:(کی)اسم- واحد- مؤنث- د غوندی ستن- هغه غټه ستن چې بوری يا غوندی وغيره پرې ګنډلے شی-

کے:(کے)علامت تصغير- د بعضو اسمونو سره په راتلو اسم تصغير جوړوی لکه غر نه غرکے، تبر نه تبرکے وغيره-

www.pukhto.net

ل:(لام)حرف- دَ فارسي اوويشتم، دَ عربي درويشتم، دَ هندي لتويشتم او دَ پښتو دَ الف ب د پنځي څلوريشتم حرف- پهٔ ابجدو کښي ئي ديرش عدده دي- جمع لامونه-

لا:(لا)حرف عطف- اوسه پوري- تر دې وخته- کله- کله پوري- ليا-

لا:(لا)اسم- واحد- مذکر- د تصوف پهٔ اصطلاح کښي دَ ماسوا نفي- د غير نفي-

لا:(لا)اسم صفت- دوېم- زيات- پري د پاسه-

لاابال:(لا-اَ-بال)اسم صفت- لاوبال- (۱)بې پروا- بې فکره- (۲)تکره- زړهٔ ور- (۳)رند- شرابي- (۴)بې شرمه- کلک سترګے- شوخ-

لاأبالي:(لا-اَ-با-لي)اسم- واحد- مؤنث- لاوبالي- (۱)بې پروائي- بې فکري- (۲)تکره توب- (۳)رندي- (۴)بې شرمي- شوخ والے-

لااحصٰي:(لا-اح-صا)اسم صفت- چې احاطه او اندازه ئي نهٔ شي کېدے- بې اندازې-

لاادم:(لا-اَ-دم)مرکب توصيفي- (۱)نهٔ سړے- (۲)بې کاره سړے-

لااقل:(لا-اَ-قل)مرکب توصيفي- کم نه کم- لږ تر لږه-

لاانتها:(لا-ان-ت-ها)مرکب توصيفي- هغه چې سر ئي نهٔ وي معلوم- چې څهٔ حد يا انتها ئي نهٔ وي-

لابد:(لا-بد)متعلق فعل- (۱)بې شکه- يقيناً- قطعي- (۲)مجبوراً-

لابراتوار:(لا-بـرا-ت-وار)اسم- واحد- مذکر- ليباټري- ليبارټري-

لابدي:(لا-بـ-دي)اسم صفت- لازمي- يقيني-

لابقري:(لا-ب-عق-ري)اسم صفت- مذکر- (۱)لوبغاړے- پهٔ لوبه پوهه- (۲)ماهر- چالاک- پوهه-

لا بل پروړ:(لا-بل-پـ-روړ)اسم مرکب- مذکر- (۱)د پروني او بل پروني ورځې نه وړاندې ورځ- (۲- متعلق فعل)پهٔ تېره شوي دريمه ورځ- دَ پروني او بل پروني ورځې نه پهٔ وړاندې ورځ-

لا بل سبا:(لا-بل-سه-با)اسم مرکب- مذکر- (۱)سبا نه بل سبا پسې ورځ- راتلونکې دريمه ورځ- (۲- متعلق فعل)پهٔ راتلونکې دريمه ورځ- بل سبا پسې پهٔ راتلونکې ورځ-

لابوري:(لا-بو-ري)اسم- جمع- مؤنث- خوشامندي- چاپلوسي-

لابيان:(لا-بـ-يان)مرکب توصيفي- (۱)نامعلوم- (۲)هغه وينا چې دَ وئيلو نهٔ وي- هغه خبره چې دَ وينا جوګه نهٔ وي-

لاپ:(لاپ)اسم- واحد- مذکر- لوئ لاپې- لاپ شاپ- لاف- لاپې-

لاپړن:(لاپ-ړن)اسم صفت- مذکر- لاپې کونکے- لاپزن- پوزې ويشتونکے- پوزمار- لپوړ- لاپک- لاپوک- لاپن- لاپو- پوَټ مار- بادمار- لاپک- پوزک- تيرے- لاپوک-

لاپ شاپ:(لاپ-شاپ)اسم- جمع- مذکر- لاپې شاپې- پوزې- لاپې شاپې-

لاپک:(لا-پک)اسم صفت- مذکر- وګوره: لاپړن-

لاپن:(لا-پن)اسم صفت- وګوره: لاپړن-

لاپو:(لا-پو)اسم صفت- وګوره: لاپړن-

لاپوک:(لا-پوک)اسم صفت- مذکر- وګوره: لاپړن-

لاپه:(لا-په)اسم- واحد- مؤنث- ځان ستائينه- ځان ښودنه- پوزه- پوټه- باړه- لامه- جمع لاپې-

لاپې:(لا-پې)اسم- جمع- مؤنث- د لاپه جمع- وګوره: لاپه-

لاپېږے:(لا-پې-ږے)صفت- واحد- مذکر- مړاوے- پژمرده- مرغيجن- مرګهن-

لاپې شاپې:(لا-پې-شا-پې)اسم- جمع- مؤنث- وګوره: لاپ شاپ-

لات:(لات)اسم- واحد- مذکر- د جاهليت د زماني د يوهٔ بوت نامه-

لاترې:(لا-ت-رې)اسم- واحد- مؤنث- پچه- لاټرې- خسنے-

لاتعداد:(لا-تع-داد)اسم صفت- بې شماره- ډېر زيات-

لاتي لګاتي:(لا-تي-لـه-ګا-تي)متعلق فعل- خوروور- شاړلې واړلې-

لاټ:(لاټ)اسم- ډېر اوچت عمارت يا ستنه- (۲)شطه-

لاټ:(لاټ)اسم- واحد- مذکر- لارډ- (۱)مالک- آقا- (۲)امير- (۳)دَ برطانيې اعزازي خطاب- (۴)ګورنر- حاکم-

لاټو:(لا-ټو)اسم- واحد- مذکر- يوه اوږده لکي لرونکې مرغۍ- جمع لاټوان-

لاټو:(لا-ټو)اسم- واحد- مذکر- لهٔ لرګي نه جوړ دَ ماشومانو دَ لوبو برلمدے (برندے)-

لاټو:(لا-ټو)اسم- واحد- مذکر- د اپيمو نشه پړيه- کوکنار- غوزه-

لاټې:(لا-ټې)اسم- واحد- مؤنث- هغه ووړکے لرګے چې دَ اوښ پهٔ سپېږمه کښي دَ مهار تړلو پهٔ غرض ورکولے شي-

لاټينګ:(لا-ټينګ)اسم صفت- زيږ- ډېر لوړ- ډېر کاټه-

لاټين:(لا-ټين)اسم- واحد- مذکر- د رڼا يوه آله چې باتي ته ئي لهٔ هوا دَ بچ کېدو پهٔ غرض شيشه لګولے شوې وي- دَ شيشې فانوس- لالټين-

لاټې:(لا-ټې)اسم- واحد- مؤنث- کوتک- لوړ- همسا- امسا-

لاثاني:(لا-ثا-ني)اسم صفت- بې مثله- بې نظيره- يکتا- چې سيال ئي نهٔ وي-

لاجبر:(لاج-بر)اسم- واحد- مذکر- (۱)وګوره: لاجورد- (۲)يو قسم تور رنګے ميمي کانړے-

لاجبري:(لاج-بـ-ري)اسم صفت- وګوره: لاجوردي-

لاجرم:(لا-جـ-رم)متعلق فعل- (۱)بې شکه- يقيناً- (۲)مجبوراً- بالضرور-

لاجواب:(لا-ج-واب)اسم صفت- لاځواب- (۱)خاموش- غلے- چُپ- (۲)مغلوب- عاجز- چې ځواب ورنهٔ کړے شي- (۳)بروعږن- (۴)بې مثله- لاثاني چې جواب ئ نهٔ وي-

لاجورد:(لاج-ورد)اسم- واحد- مذکر- يو قسم اسماني رنګ پړقېدونکے قيمتي کانړے- لاجبر- لاجبر-

لاجوردي:(لاج-ور-دي)اسم صفت- د لاجورد پهٔ شان- اسماني رنګے- لاجبري-

لاچي:(لا-چي)اسم- واحد- مؤنث- الاچي-

لاځواب:(لا-ځ-واب)اسم صفت- وګوره: لاجواب-

لاچار:(لا-چار)اسم صفت- ناچار- لاچار- (۱)مجبور- بې وسه- (۲)محتاج-

ئ (ئي-زل)، ي(صي-ره-ول)، ی(يما-لي)، ے(تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www pukhto net

غریب- بې وسه- نادار-

لاچېر(لاچ-ېر)اسم- واحد- مذکر- وګورى لادورد-

لاچى(لا-چى)اسم- واحد جمع- مذکر- يو قسم خوشبوداره بوټى او د هغهٔ دانې چې دوه قسمه لرى شنهٔ لاچى چې پهٔ شنو چايو يعنى قهوه کښې د خوند د پاره استعماليږى او تور لاچى چې پهٔ وريژو کښې د خوند د پاره اچولى شى- الاچى- ALPINIA سباناتى سوم بلهبيتيا کاربسمامم CARDAMOMUM-

لاچى دانه(لاچى-دا-نه)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم خواږهٔ چې عموماً لاچى يا چنې ئې پهٔ خوږو کښې ګېرى کړے شوې او غټوى غټوى دانې ترې جوړے کړے شوى وى-

لاچى(لا-چى)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورى اچى-

لاچے(لا-چے)اسم- واحد- مذکر- د سپيو يو قسم چې ويښتهٔ ئې لږ وى-

لاځار(لا-ځار)اسم صفت- وګورى لاچار-

لاحقه(لا-حِ-قه)اسم- واحد- مؤنث- هغه کلمه چې د بل لفظ سره وروستو لګى او پهٔ معنى اثر پرې باسى- لفظ پسې لګېدونکې کلمه-

لاخ(لاخ)اسم- واحد- مذکر- هغه ځائ چرته چې څهٔ ګيز پهٔ ډېر زمات مقدار کښې وى-

لاداره(لا-دا-ره)اسم- واحد- مؤنث- د اس يا د خرهٔ تبره صده-

لادباد(لاد-باد)اسم- واحد- مذکر- طاقت- زور- توان-

لادوا(لا-دوا)اسم صفت- هغه چې دارو ئې نهٔ وى- لاعلاج- چې علاج ئې نهٔ شى کېدے-

لاډنګ(لا-ډنګ)اسم- واحد- مذکر- نوږ هم او بې پروله اندامونه لرونکے سړے- مؤنث لاډنګه-

لاډو(لا-ډو)اسم صفت- (۱)کم عقل- بيوقوف- بکولسى- (۲- اسم- مؤنث)د اپيمو تنهٔ غوزه- پوپه-

لاړو(لا-ړو)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پيلوبينه- هغه جينئ چې بېره پهٔ مينه لويه کړے شوې وى- (۲)ناوى-

لاړورے(لا-ړو-رے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم ساګ- غندلې-

لاړولړنګه(لا-ړول-ړنګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- هغه ملګ چې نور ملګرى ورله مخ تور کړى او نقلى ږيره او مخصوص لباس وراچوى او پهٔ کوڅو کښې ئې د باران کېدو د پاره د خېرات راغنډلو پهٔ غرض ګرځوى- تورمخے- لولاړنګه- تورمخے ماباء-

لاهيز(لا-هيز)اسم صفت- مذکر- اواره ګرد- خوشے ګرځېدونکے- خوشے تشے- مؤنث لاهيزه-

لار(لار)اسم- واحد- مؤنث- لاره- لماره- ليار- (۱)د تګ ځائ- هغه ځائ پهٔ کوم چې سګ راتګ کولے شى- سړک- رو- (۲)قاعده- طريقه- رسم- (۳)اصول- ستور- ... د رسمو پهٔ مبيح کښې کربه-

لا پهٔ(لا-په)اسم صفت- (رسود)مکر- رشما- لارسود-

لار پانه(لار-پا-نه)اسم- واحد- مؤنث- پروانه- راهدارى- پهٔ لاره باندې د تلو اجازت نامه- لارليک- جمع لارپانې-

لارپوبکونے(لار-پو-بکو-نے)اسم صفت- لار ختمونکے- سفر ختمونکے-

لارد(لا-رد)صفت- واحد- مذکر- قطعى- يقينى-

لارډ(لارډ)اسم- واحد- مذکر- (۱)خدائ- رب- (۲)مالک- څښتن- (۳)خاوند- صاحب- (۴)سيد- پير- حضرت- (۵)خان- سردار- ملک-

لارشوکے(لار-شو-کے)اسم صفت- لار شوکونکے- لار وهونکے- پهٔ لاره خلق لوټونکے- شوکمار-

لارپيوه(لار-پي-وه)اسم- واحد- مؤنث- پهانوس- فانوس-

لارښود(لار-ښود) اسم صفت- لار ښودونکے- راهنما- لار ښوونکے-

لارښودل(لار-ښو-دل)مصدر متعدى- رهنمائى کول- لار ښول- لار ښوول-

لارښودنه(لار-ښو-د-نه)حاصل مصدر- وګورى لارښودل-

لارښودونکے(لار-ښو-دو-نکے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورى لارښود-

لارښول(لار-ښو-ول)مصدر متعدى- وګورى لارښودل-

لارښونه(لار-ښو-و-نه)حاصل مصدر- وګورى لارښودل-

لارښوونکے(لار-ښو-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورى لارښودل-

لارغه(لار-غه)اسم- واحد- مذکر- (۱)پيل- ختم- تاخير- (۲- صفت)وراندې تير شوے-

لارليک(لار-ليک)اسم- واحد- مذکر- وګورى لارپانه-

لارو(لا-رو)اسم صفت- وګورى لاروے-

لاروا(لار-وا)اسم- واحد- مؤنث- د چينجى لهٔ لګى نه تازه راوتلے بچے-

لارورکے(لار-ور-کے)اسم صفت- هغه چې لار ترې ورکه شوې وى- چې لار ترې غلطه شې وى- ګمراه- مؤنث لارورکې- جمع لارورکى-

لاروونے(لار-وو-نے)اسم صفت- وګورى لاروے-

لاروهل(لار-وهل)مصدر متعدى- (۱)لار شوکول- پهٔ لاره خلق لوټ کول- (۲)منزل کول- سفر کول-

لاروهنه(لار-وه-نه)حاصل مصدر- وګورى لاروهل-

لاروهونکے(لار-وهون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورى لاروهل-

لاروهونے(لار-وهو-نے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورى لاروهل-

لاروے(لار-وے)اسم صفت- لارو- لارے- (۱)پهٔ لار تلونکے- (۲)پردے- ناآشنا-

لاره(لا-ره)اسم- واحد- مؤنث- نغمه- آهنګ- سرود-

لاره(لا-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګورى لار-

لاره چاره(لاره-چا-ره)اسم مرکب- واحد- مؤنث- (۱)چل- هنر- ترتيب- تدبير- لار کودر- رو کودر- حل- تجويز- هوارے- بندوبست- غور- (۲)تعلق- راشه درشه- روزګار ساتنه- مرے ژوندے- جمع لارې چارې-

لارير(لا-رير)اسم صفت- د لار- د لار متعلق-

لاريخه(لا-ري-خه)اسم- واحد- مؤنث- چوله- دوطرمه- هغه پاټک يا ځائ چې

www.pukhto.net

لاړي دوه وي-

لاړي چاري:(لا-ړي-چا-ري)اسم- جمع- مرکب- وګورئ لاړه چاړه-

لاړي لاړي:(لا-ړي-لا-ړي)اسم صفت- هغه چې ډېرې لاړې پکښې وي- ډېرې لاړې لرونکې-

لاړی:(لا-ړی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- په تېلو چلېدونکې لويې ګاړې- چکړه- بس- ټرک-

لاړ:(لاړ)اسم- واحد- مذکر- لړ- (۱)سلسله- قطار- (۲)د غاړې کالے- امېل-

لاړ:(لاړ)اسم- واحد- مذکر- مينه- محبت- لاړ-

لاړژن:(لا-ړژن)صفت- واحد/جمع- مذکر- لاړجن- (۱)هغه څوک چې د خلې نه يې لاړې بهيږي- لاړو- لاړن- (۲)هغه کېږه چې د ماشومانو په غاړه کښې خوړنده وي چې لاړې يې په سينه نه بهيږي- لاړګير- لاړګړک-

لاړجن:(لا-ړجن)اسم- واحد- مذکر- يو قسم مشهور ساګ- ورخړے-

لاړګړک:(لاړ-ګړک)اسم- واحد- مذکر- لاړژن- لاړجن- لاړګير-

لاړن:(لا-ړن)اسم صفت- مذکر- لاړژن- هغه چې له خلې يې لاړې بهيږي- بهه يا لاړڅاڅے- ليالاړجن- لياړژن- لاړيجن- لاړيژن- لاړو- لاړجن- اړا- مؤنث لاړنه- لياړژن-

لاړو:(لا-ړو)اسم صفت- وګورئ لاړن-

لاړول:(لا-ړه-ول)مصدر متعدي- ختمول- بربادول- تباه کول- ضائع کول-

لاړون:(لا-ړه-ون)حاصل مصدر- وګورئ لاړول-

لاړونکے:(لا-ړه-ورن-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ لاړول-

لاړونه:(لا-ړه-وڼه)حاصل مصدر- وګورئ لاړول-

لاړه:(لا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- د خلې اُبه- لُعاب- توکانه- غوزګه-

لاړه:(لا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- ډېرې- مهير-

لاريس:(لا-ريس)اسم- واحد- مذکر- سائيکل- سائيکل-

لاړی:(لا-ړی)اسم- جمع- مؤنث- د لاړه جمع- وګورئ لاړه-

لاړی تو:(لا-ړي-تو)اسم- واحد- مذکر- توک دان- توک داني- د لاړو توکلو لوښے-

لاړی ژن:(لا-ړی-ژن)اسم صفت- وګورئ لاړن-

لاړے:(لا-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه لرګے چې په کوټه اچولے شي- لهرے- ږاګه- (۲)هغه لرګے چې ډول يا ډولکے پرې ډبولے شي-

لازم:(لا-زم)اسم صفت- (۱)وروستو لګېدلے- نښتے- (۲)فرض- ضروري- (۳)په ګرائمر کښې هغه مصدر چې صرف فاعل لري-

لازم:(لا-زم)اسم صفت- پښېمان- نادم- خجل- ستومانه-

لازموالے:(لا-زم-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- ضرور کېدنه- ضرورت- لازمېدنه- فرضيت-

لازمول:(لا-زم-ول)مصدر متعدي- (۱)فرض کول- ضروري کول- ضروري ګرځول- (۲)پښېماڼول- پښېمانه کول- نادم کول- ستومانول-

لازمون:(لا-زم-مون)حاصل مصدر- وګورئ لازمول-

لازمونکے:(لا-زم-مورن-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ لازمول-

لازمونګ:(لا-زم-مه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ لازمول-

لازمونه:(لا-زم-مو-ڼه)حاصل مصدر- وګورئ لازمول-

لازمه:(لا-زمه)اسم- واحد- مؤنث- اسباب- سامان- ضروري اسباب- جمع لوازم- جمع الجمع لوازمات-

لازمي:(لا-زمي)اسم صفت- (۱)ضروري- واجب- فرض- (۲)متعلق فعل- حتماً- بالضرور-

لازمېدل:(لا-زمې-دل)مصدر لازم- (۱)فرض کېدل- ضروري کېدل- ضروري ګرځېدل- (۲)پښېمانېدل- پښېمانه کېدل- نادمېدل- ستومانېدل-

لازمېدن:(لا-زمې-دن)حاصل مصدر- وګورئ لازمېدل-

لازمېدنګ:(لا-زمې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ لازمېدل-

لازمېدنه:(لا-زمې-دڼه)حاصل مصدر- وګورئ لازمېدل-

لازمېدونکے:(لا-زمې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ لازمېدل-

لازمېده:(لا-زمې-ده)حاصل مصدر- وګورئ لازمېدل-

لازوال:(لا-زوال)اسم صفت- هغه چې زوال نه لري- همېشه پاتې کېدونکے-

لاږ:(لاږ)اسم- واحد- مذکر- جوړه شوې رسۍ- عښتلې شوې رسۍ-

لاول:(لا-ول)مصدر متعدي- وګورئ لېږل-

لاس:(لاس)اسم- واحد- مذکر- (۱)په انساني بدن کښې له وږي نه د منګلې تر ګوتو پورې حصه چې انسان پرې کار کوي- د مټ، منګل او ګنګل شرمله نوم- (۲)دست- زور- طاقت- قوت- (۳)استعداد- لياقت- قابليت- (۴)د نيم ګز مقدار- (۵)وار- ځل-

لاسا:(لا-سا)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم چېز چې له ونو حاصلولے شي- کوند- ګلش-

لاس اړی:(لاس-ا-ړی)اسم- واحد- مؤنث- تنګدستي- احتياج- حريانېدنه- لاس تنګي- لاس بندي-

لاس اړے:(لاس-أ-ړے) اسم صفت- مذکر- تنګدست- محتاج- حريان- لاس تنګے- لاس بندے-

لاس اکتوے:(لاس-اک-تو-ے)اسم صفت- د بل لاس ته ناست- لاس کتونے- لاسکوځے- محتاج-

لاس سره:(لاس-سا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- د لاس محنت مزدوري- ديارې- د محنت عوض-

لاسبرى:(لاس-به-ري)اسم- واحد- مؤنث- لاس برکېدنه- غلبه- وس- توان- طاقت-

لاسبرے:(لاس-به-رے)اسم صفت- هغه چې لاس يې بر وي- غالب- زوره ور- مؤنث لاس بره- جمع لاس برې-

لاس بندي:(لاس-بن-دي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لاس اړي-

لاس بندے:(لاس-بن-دے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لاس اړے-

لاس بېله:(لاس-بې-له)اسم- واحد- مؤنث- د لاسونو جرابه- دستانه-

ئ" (ئی-رل)، ئ"(هي-ره-ول)، ئ"(پيا-لي)، ے"(تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۹

www.pukhto.net

سخاوت- فیاضي-

لاس پراخي:(لاس-پـه-راخي)اسم- واحد- مؤنث- لاس ارتیدنه- سخاوت- فیاضي-

لاس پراخـے:(لاس-پـه-راخـے)اسم صفت- د خلاص یا ارت مټ خاوند- سخي- فیاض- لاس فراخـے- لاس پراستے-

لاس پرانستے:(لاس-پرا-نس-تے)اسم صفت- وګورئ لاس پراخے-

لاس پهٔ سر:(لاس-پهٔ-سر)صفت مرکب- فارغ- خلاص- وزګار- هغه چې تعلق يې سره ختم وي-

لاس پهٔ لاس:(لاس-پهٔ-لاس)متعلق فعل- سمدستي- ژر تر ژره- فوري طور باندې- پهٔ وخت- هغه ساعت- سمدستي-

لاس پېلي:(لاس-پې-لي)اسم- واحد- مؤنث- اغاز- ابتدا- شروع-

لاس تر زني:(لاس-تر-زني)متعلق فعل- خفګان سره- پهٔ پرېشانۍ- پهٔ فکر کښې-

لاس تړلے:(لاس-ته-ړلے)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه چې لاس يې تړلے شوے وي- بندي- ګرفتار- (۲)مجبور- محتاج- جمع لاس تړلي-

لاس تړونے:(لاس-ته-ړو-نے)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه څيز چې لاس پرې تړلے شي- (۲)کانړه- کړو-

لاس تنکي:(لاس-تنک-کي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لاس اړي-

لاس تنکے:(لاس-تنک-کے)اسم صفت- وګورئ لاس اړے-

لاستور:(لاس-ته-ور)اسم صفت- هغه چې لاستے يا لاسکے لري- لاستے لرونکے- دسته دار-

لاستوره:(لاس-ته-وره)اسم- واحد- مؤنث- څمڅۍ-

لاسته:(لاس-ته)اسم- واحد- مؤنث- طرف- اړخ- پوره- جمع لاستې-

لاس چوړه:(لاس-چو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- دٔ لاس وچولو کپړه- څپوټے- رومیال- رومال- لاس وچ-

لاس روغبړ:(لاس-روغ-بړ)اسم مرکب- مذکر- جوړ تازه- ستړي مه شې- هرکلے-

لاس ښهٔ:(لاس-ښهٔ)اسم- واحد- مؤنث- دٔ لاس خوبي- دٔ لاس ښهٔ والے-

لاسکے:(لاس-کے)اسم- واحد- مذکر- دٔ څهٔ څیز دٔ نیولو ځاے- موټے- دسته- لاستے- چومبے- چمبے-

لاس کټه:(لاس-کټه)اسم مرکب- مؤنث- دٔ لاس کټه- دٔ لاسو مزدوري- پهٔ لاس کړې کټه-

لاسګير:(لاس-ګير)اسم صفت- بندي- اسير- قیدي-

لاس لستونے:(لاس-لس-تو-نے)صفت- تږدي- چټک- ترخوا-

لاس لیک:(لاس-لیک)اسم مرکب- مذکر- (۱)دستاوېز- اقرارنامه- دستخط-

لاس ماغو:(لاس-ما-غو)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لاس ماغه-

لاس ماغه:(لاس-ما-غه)اسم- واحد- مؤنث- دسکله- دستانه- لاس ماغو- دسماغو-

لاسنجت:(لاس-ن-جت)اسم- واحد- مذکر- پهٔ پنجه کښې کلک رانیونه-

لاسنجتول:(لاس-ن-جه-ته-ول)مصدر متعدی- پهٔ پنجه کښې کلک رانیول- پهٔ لاس کښې رانیول-

لاسنجتون:(لاس-ن-جه-ته-ون)حاصل مصدر- وګورئ لاسنجتول-

لاسنجتونکے:(لاس-ن-جه-ته-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ لاسنجتول-

لاسنجتونه:(لاس-ن-جه-ته-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ لاسنجتول-

لاس نیولے:(لاس-ني-و-لے)متعلق فعل- لهٔ لاسو نیولے- لهٔ لاسو نیولے حالت کښې- (۲- صفت)سوال کونکے- غښتونکے- محتاج-

لاس نیونه:(لاس-ني-و-نه)اسم- واحد- مؤنث- مدد- مرسته- دٔ ضرورتمند امداد کونه-

لاس نیوه:(لاس-ني-وه)اسم- واحد- مؤنث- بیعت- مُریدي- دٔ چا مریدي اختیارونه- لاس نیوے-

لاس نیوے:(لاس-ني-وے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لاس نیوه-

لاس وچ:(لاس-وچ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لاس چوړه-

لاس ورکړه:(لاس-ور-کړه)اسم- واحد- مؤنث- مدد- امداد- حمایت-

لاس ولوبے:(لاس-ولو-بے)اسم صفت- د وینځلو دٔ پاره دٔ بل لاسونو ته اُبهٔ اچونکے- خدمتګار-

لاسوندل:(لاسون-دل)مصدر متعدی- سند کرځول- بومیا کول- ثبوت جوړول- دلیل جوړول-

لاسوندن:(لاسون-دن)حاصل مصدر- وګورئ لاسوندل-

لاسوندنه:(لاسون-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ لاسوندل-

لاسوندونکے:(لاسون-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ لاسوندل-

لاسوندے:(لاسون-دے)اسم- واحد- مذکر- سند- دلیل- دستاوېز- ثبوت-

لاس وینځے:(لاس-وي-نځے)اسم صفت- لاس وهلے- لګتې وهلے شوې- جوته شوے-

لاس وینځونکے:(لاس-وين-ځون-کے)اسم- واحد- مذکر- دٔ لاس وینځلو لوښے- لاس وینځونکے- چیلمچي-

لاسه:(لاسه)حرف عطف- نیز- لهٔ دې نه علاوه- نور- بل-

لاسي:(لاسي)اسم صفت- لاس سره منسوب- دٔ لاس- دستي-

لاسي:(لاسي)اسم صفت- مؤنث- لاس وهلے- پاتې شوې-

لاش:(لاش)اسم- واحد- مذکر- مړ وجود- مړ شوے بدن- نعش- میته- مړے- مړده- لاښ- جمع لاشونه-

لاشعور:(لاش-عور)اسم- واحد- مذکر- پټ عقل- عقل خفي-

لاشک:(لاشک)اسم مرکب- بې شکه- شرطیه-

لاشوړه:(لاشو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- یو ونه او دٔ هغې دٔ میوې نامه- شوړه- لسوړه- لشوړه- نباتاتي نوم کوړیه لیټي فولیا (CORDIA LATIFOLIA)-

www.pukhto.net

لاشه:(لا-شه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مړ وجود- لاش- (۲)لښه- لاشه- (۲- صفت)مانده- تپ- کمزورے- نرے نروچکے-

لاشۀ:(لا-شه)اسم- واحد- مؤنث- لیاشه- لیاشۀ- لشن- لشکه- لاشه- لیشه- لشه- (۱)دَ مچۍ- ډمبرۍ یا لړم وغیره هغه تیرۀ او زهرژن ازغے چې دشمن له پرې ټک ورکوي- (۲)دَ غنمو وربشو وغیره دَ وږی نرے ازغے- (۲)دَ کب په وجود کښې نرے تیرۀ هډوکے- (۴)بد خوی- بد عادت-

لاښ:(لاښ)اسم- واحد- مذکر- وګوره: لاش-

لاښ:(لاښ)اسم- واحد- مذکر- دَ غرۀ بهر ته راوتلې ډډه یا اړخ-

لاښ:(لاښ)اسم- واحد- مذکر- هغه باغ چې پوله میوه تري وشوکولے شي او ونې یا بوټے خالي پاتې شي- تش کړے شوے باغ-

لاښول:(لا-ښه-ول)مصدر متعدی- لۀ باغ نه میوه توتول- باغ تشول-

لاښون:(لا-ښه-ون)حاصل مصدر- وګوره: لاښول-

لاښونکے:(لا-ښه-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوره: لاښول-

لاښونه:(لا-ښه-ونه)حاصل مصدر- وګوره: لاښول-

لاښېدل:(لا-ښې-دل)مصدر لازم- لۀ باغ نه میوه توتېدل- باغ تشېدل-

لاښېدن:(لا-ښې-دن)حاصل مصدر- وګوره: لاښېدل-

لاښېدنه:(لا-ښې-دنه)حاصل مصدر- وګوره: لاښېدل-

لاښېدونکے:(لا-ښې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوره: لاښېدل-

لاښېدۀ:(لا-ښې-دۀ)حاصل مصدر- وګوره: لاښېدل-

لاښے:(لا-ښے)اسم- واحد- مذکر- هغه بیکاره خرابه میوه چې د باغ شوکولو نه پس په بوټو کښې پاتې وي-

لاعلاج:(لا-ع-لاج)اسم صفت- (۱)وګوره: لادوا- (۲)هغه چې څۀ حل ئې نۀ راوځي- لاینحل-

لاعلم:(لا-ع-لم)اسم صفت- هغه چې علم ورته نۀ وي- نۀ پوهېدونکے- ناخبره- ناواقف-

لاعلمي:(لا-عل-مي)اسم- واحد- مؤنث- بې خبري- ناواقفیت- نوپوهي-

لاغ:(لاغ)اسم- واحد- مذکر- (۱)لوبه- بازي- (۲)ظرافت- ټوقه- (۲)مکر- فریب-

لاغر:(لا-غر)اسم صفت- مانده- کمزورے- تپ- نرے نروچکے-

لاغرض:(لا-غه-رض)اسم صفت- هغه چې غرض ئې نۀ وي- بې غرضه-

لاغر نیکۀ:(لا-غر-نی-کۀ)اسم- واحد- مذکر- دَ نیکۀ نیکۀ- دَ غر یا قر نیکۀ پلار- لاغور نیکۀ-

لاغري:(لا-غه-ري)اسم- واحد- مؤنث- مانده توب- کمزوري- تپوالے- مانده والے-

لاغو:(لا-غو)اسم- واحد- مؤنث- دَ اخلی پخلی وړوکے لاسټے لرونکے کړېچے- ارکاري-

لاغور نیکۀ:(لا-غور-نی-کۀ)اسم- واحد- مذکر- وګوره: لاغر نیکۀ-

لاغي:(لا-غي)اسم صفت- فضول خبری کونکے- بې فائدې- بکواسي- لاپي-

لاف:(لاف)اسم- واحد- مذکر- وګوره: لاپ-

لاماني:(لا-ماني)اسم صفت- هغه چې نۀ فنا کیږي- همېشه پاتې کېدونکے-

لامو:(لا-مو)اسم صفت- وګوره: لاپړن-

لاموړ:(لا-موړ)اسم صفت- وګوره: لاپړن-

لانه:(لا-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګوره: لاپه-

لانې:(لا-نې)اسم- جمع- مؤنث- دَ لانه جمع- وګوره: لاپه-

لانې شانې:(لا-نې-شا-نې)اسم- جمع- مؤنث- وګوره: لاپ شاپ-

لاړ:(لاړ)صفت- واحد- مذکر- لګ- نمج- زلاړ-

لاړ:(لاړ)اسم- جمع- مذکر- لۀ غېجیو پیدا کېدونکې یو قسم خلېښاکه ماده چې عموماً دَ ښکړیو جوړلو او مړوړو لګولو پکار راوستے شي-

لاد پښت:(لا-د-پښت)اسم- واحد- مذکر- ښښتي- کاسه ګرب- سنګ پښت-

لاکړه کاکړه:(لا-ک-ړه-کا-ک-ړه)اسم- واحد- مؤنث- دَ ماشومانو یو مرض چې په وجود پکښې سرې سرې دانې راوخیژي- اوټې-

لاکن:(لا-کن)حرف عطف- خو- مګر- لیکن-

لاکو:(لا-کو)اسم صفت- سراکه ګنه- د شهادت ګته- لګره-

لاکي:(لا-کي)اسم صفت- (۱)دَ لاکو په شان رنګ لرونکے- سوربخن- (۲)دَ لاکو- لاکو نه جوړ-

لاکېل:(لا-کې-ل)مصدر متعدی- لګېل- نېښېل- ونړېښل-

لاګ:(لاګ)اسم- واحد- (۱)تعلق- نسبت- علاقه- (۲)مینه- محبت- (۲)مزه- خوند- (۴)شوق- (۵)دشمني- عداوت- (۲)چل- شعبده- غزه- (۷)جادو- کوډې- منتر- ټوټکه- (۸)دارو- دوا- (۹)مرسته- مدد-

لاګ:(لاګ)اسم- واحد- مذکر- تجارتی لین دین- کاروبار- بیوپار- ورکړه راکړه- لاګی-

لاګدار:(لاګ-دار)اسم صفت- مذکر- (۱)هغه سړے چې دَ چا سره ئې دَ تجارت لین دین وي- (۲)خپلوان- رشته دار- (۲)دوست- اشنا-

لاګي:(لا-ګي)اسم- واحد- مؤنث- وګوره: لاګ ۱-

لاګي:(لا-ګي)اسم صفت- اعتباری- معتمد- په لین دین کښې کره-

لال:(لال)اسم- واحد- مذکر- یو قسم قیمتي کاڼے- لعل- (۲- صفت)سور- سوررنګے- (۲)دَ انګورو یو اعلیٰ قسم-

لال:(لال)اسم- واحد- مذکر- پرتوغاښي-

لال:(لال)اسم صفت- (۱)چې خبرې نۀ شي کولے- ګونګے- (۲)تتره- ترټره- چاړا- نیم ژبے- تتر-

لالا:(لا-لا)اسم صفت- (۱)خدمتګار- خدمت کونکے- (۲)پېرقېدونکے- غلان-

لالا:(لا-لا)اسم- واحد- مذکر- (۱)پلار- مشر ورور یا اوبنی ته دَ خطاب کلمه- (۲)صاحب- معزز- جناب- ښاغلے- دَ هندوانو خطاب- (۲)بنیا- ساهوکار- (۴)خوږ- ګران- عزیز- (۵)سحر- خسر-

لال بکي:(لال-بېکي)اسم- واحد- مؤنث- د ترکاري رغے او خور لوښے- رکسې- لال بکي-

"ی" (ځي-رل)، "ې"(مې-رمنول)، "ی"(پیا-لی)، "ے"(تن-درے) تفصیل د پاره وګوره: تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

لالتين:(لال-تِين)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لاټين-

لالجن:(لال-جن)اسم- واحد- مذکر- يو قسم مشهور ساګ ورخاړے-

لالچ:(لا-لچ)اسم- واحد- مذکر- (۱)حرص- طمع- لېوالتوب- (۲)رشوت-

لالکو:(لا-له-کو)اسم- واحد- مذکر- ورور ته دَ مينې خطاب- وروړکے-

لال لړکے:(لال-لړ-کے)اسم- واحد- مذکر- د پرتوګاش پکے-

لالن:(لا-لن)اسم- واحد- مذکر- لالے- محبوب- معشوق-

لالنه:(لا-لَنه)اسم- واحد- مؤنث- مينه- محبت-

لالواند:(لا-له-وانْد)اسم صفت- وګورئ لالهاند-

لالوانده:(لا-له-وانْ-ده)اسم صفت- متعلق فعل- وګورئ لالهانده-

لالهاند:(لا-له-هانْد)اسم صفت- سرګردان- پرېشان- ګډوډ- لالهند- تړور- لېلهاند- ترمور- لالواند- لالوانده- مؤنث لالهانده-

لالهاندتوب:(لا-له-هانْد-توب)اسم- واحد- مذکر- پرېشانی- سرګردانی- تروړتيا- ترمورتيا- لالهاندتيا- لالهاندی- لالهندتيا- لالهندی- لالهندتوب-

لالهاندتيا:(لا-له-هانْد-تْيا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لالهاندتوب-

لالهاندول:(لا-له-هانْ-دول)مصدر متعدی- سرګردانول- پرېشانول- پرېشانه کول- تړوروْل- ګډوډ کول- وارخطا کول- لالهندول-

لالهاندون:(لا-له-هانْ-دون)حاصل مصدر- وګورئ لالهاندول-

لالهاندونکے:(لا-له-هانْ-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ لالهاندول-

لالهاندونه:(لا-له-هانْ-دو-نه)حاصل مصدر- وګورئ لالهاندول-

لالهانده:(لا-له-هانْ-ده)اسم صفت- (۱)وګورئ لالهاند- (۲- متعلق فعل)پهٔ بده ورځ- تړور- پهٔ پرېشانۍ- سرګردانۍ سره-

لالهاندی:(لا-له-هان-دی)اسم- واحد- مؤنث- لالهندی- وګورئ لالهاندتيا-

لالهاندېدل:(لا-له-هان-دې-دل)مصدر لازم- سرګردانېدل- پرېشانېدل- پرېشانه کېدل- تړورېدل- ګډوډېدل- وارخطا کېدل-

لالهاندېدن:(لا-له-هانْ-دې-دن)حاصل مصدر- وګورئ لالهاندېدل-

لالهاندېدنه:(لا-له-هانْ-دې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ لالهاندېدل-

لالهاندېدونکے:(لا-له-هان-دې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ لالهاندېدل-

لالهاندېدهٔ:(لا-له-هانْ-دې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ لالهاندېدل-

لاله:(لا-له)اسم- واحد- مذکر- يو سُور رنګ لرونکے ګل چې پهٔ مېنځ کښې يې يو تور داغ وی- خانتېول- غاټول- غټول- نباتاتی نوم لېروډېنډوران RODENDRON-

لاله رُخ:(لا-له-رُخ)اسم صفت- مرکب- (۱)د لاله پهٔ شان مخ لرونکے- دَ لاله پهٔ شان ښائسته- (۲)محبوب- معشوق- لاله رُخسار- لاله رُو-

لاله رخسار:(لا-له-رُخ-سار)اسم صفت- مرکب- وګورئ لاله رُخ-

لاله رُو:(لا-له-رُو)اسم صفت مرکب- وګورئ لاله رُخ-

لاله زار:(لا-له-زار)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه ځائے چې دَ لاله ګلونه پکښې پېر وی- (۲)چمن-

لاله سرے:(لا-له-سرے)اسم- واحد- مذکر- يو قسم سور سر لرونکې مرغۍ- ترمی- سُورسرے- ترمتے- تلمتے-

لاله فام:(لا-له-فام)اسم صفت- (۱)سُور رنګ لرونکے- سُور رنګے- (۲)ښکلے- ښائسته-

لاله مثال:(لا-له-مِثال)صفت- مرکب- (۱)د لاله پهٔ شان سُور- (۲)ښکلے- ښائسته-

لالهند:(لا-له-هند)اسم صفت- وګورئ لالهاند-

لالهندتوب:(لا-له-هنْد-توب)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لالهاندتيا-

لالهندتيا:(لا-له-هنْد-تْيا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لالهاندتيا-

لالهندول:(لا-له-هنْد-دول)مصدر متعدی- وګورئ لالهاندول سره دَ لوازماتو-

لالی:(لا-لی)اسم- واحد- مذکر- لالا- مشر ورور-

لالېدل:(لا-لې-دل)مصدر لازم- للېدل- اوېزانېدل-

لالی:(لا-لی)اسم- واحد- مؤنث- مېنا- خارو-

لالے:(لا-لے)اسم- واحد- مذکر- (۱)محبوب- جانان- دلبر- اشنا- (۲)وړوکی ماشوم ته دَ مينې خطاب-

لالے:(لا-لے)اسم- واحد- مذکر- دَ عاړی يو پسول- کڅے- غاړکی-

لام:(لام)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ فوځ يا پلټنې مجموعه- (۲)دَ جنګ پهٔ نيت دَ فوځ غونډه- دَ جنګ تياری-

لام:(لام)اسم- واحد- مذکر- دَ تصوف پهٔ اصطلاح کښې عالم لاهوت ته وائی يعنی د ذات الهی علم چې سالک پکښې د فنا فی الله درجې ته ورسی-

لام:(لام)اسم صفت- (۱)کږو وږو- تاوْ راتاوْ- دَ حرف " ل " پهٔ شان- (۲)دَ حرف " ل " تلفظ-

لاما:(لاما)اسم- واحد- مذکر- د تبت د بدهٔ پېشواګانو لقب-

لامبا:(لام-با)اسم- واحد- مؤنث- لمبنه- غسل کونه- پهٔ وجود اُبهٔ تېرونه- لامبنه-

لامبات:(لام-بات)اسم- جمع- مذکر- نابات- ناتبات- نبات- مصری- خواږهٔ

لامبل:(لام-بل)مصدر متعدی- لمبل- غُسل کول- پهٔ ټول وجود اُبهٔ تېرول-

لامبنه:(لام-بهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ لامبل-

لامبو:(لام-بو)اسم- واحد- مؤنث- پهٔ ژورو اُبو کښې دَ ګرځېدو يا تېرېدو فن- لامبو-

لامبوزن:(لام-بو-زن)اسم صفت- (۱)لامبو وهونکے- د لامبو پهٔ فن پوهه لامبرن- تيراک- لامبوزن- (۲)تجربه کار-

لامبرن:(لام-بې-زن)اسم صفت- وګورئ لامبوزن-

لامتناهی:(لا-مُت-نا-هی)اسم صفت- وګورئ لامحدود-

لامحاله:(لا-مَ-حا-له)متعلق فعل- يقيناً- بالضرور- خامخا-

لامحدود:(لا-مح-دود)اسم صفت- هغه چې حد يُ نهٔ وی- بې انتها- بېر زيات- لامتناهی-

زبر "(خ-بهٔ-سره)، زورکے "(شل)، پېښ "(نو-کتا-سره)، زېر "(کتاب)، جزم "(شکون)، "ه"(ز-يه)، "هٔ"(دو-جي-دهٔ)

لامده:(لاَم-ده)اسم صفت- مؤنث- لمده- لونده- نمژنه-

لامدهٔ:(لاَم-دهٔ)اسم صفت- جمع- دَ لوند جمع- لوندهٔ- نمژن- لواندهٔ-

لامذهب:(لا-مذ-هب)اسم صفت- هغه چې مذهب نهٔ لري- بې دینه- دهریه- لامذهبه-

لامذهبه:(لا-مذ-هه-به)اسم صفت- وګورئ لامذهب-

لامرکزیت:(لا-مر-کـ-مری-یت)اسم- واحد- مذکر- (۱)مرکز نهٔ لرنه- (۲)مرکزی حکومت ماتونه- (۳)دَ بېنکاری یوه اصطلاح-

لامس:(لا-مس)اسم صفت- ګـتې وروروکـے- څهٔ څیز پهٔ ګـتو ورورو معلومونکـے- پهٔ څه څیز پسې ګـتې جنګونکـے- ګـتې اېښودونکـے-

لامسه:(لا-م-سه)اسم- واحد- مؤنث- څهٔ څیز له دَ ګـتو ورورو قوت- پهٔ ګـتو دَ څهٔ څیز دَ معلومولو قوت- دَ ګـتو اېښودو قوت-

لامع:(لا-مع)اسم صفت- پرقېدونکـے- روښان- ځلان- ځلانده-

لامکان:(لا-مه-کان)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ خدایٔ پاک دَ وجود پهٔ سلسله کښې هغه چې لهٔ مادیته وُچت دے- (۲)هغه ذات چې مکان نهٔ لري-

لام کلام:(لاَم-که-لاَم)اسم مرکب- مذکر- سلام کلام- خبرې اترې- علیک سلیک- ګړه بړه-

لام لباس:(لاَم-ل-باس)اسم مرکب- جامه- چال چلن- ګړهٔ وړهٔ-

لامه:(لا-مه)اسم- واحد- مؤنث- کرېار- لامے-

لامے:(لا-مے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لامه-

لان:(لاَن)اسم- واحد- مذکر- دَ ونبو قطعه- سبزه زار- شینکے-

لان:(لان)اسم- واحد- مذکر- بې وقار-

لانبو:(لام-بو)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لامبو-

لانبوزن:(لام-بو-زن)صفت- مذکر- وګورئ لامبوزن-

لانجه:(لاَن-جه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مسئله- پېښه- جنجال- مصیبت- شخړه- ربړه- جګړه- (۲)پېچیده خبره- تاوَ راتاوَ خبره- جمع لانجې-

لانجه کونجه:(لاَن-جه-کون-جه)اسم- واحد- مؤنث- لانجه- مسئله- جګړه- ربړه- جمع لانجې کونجې-

لانجه مار:(لاَن-جه-مار)اسم صفت- لانجه کونکـے- بدمعامله- جنجالی- جګړمار-

لانجین:(لاَن-جین)اسم- واحد- مذکر- دَ عمارتونو جوړولو پهٔ عرض دَ چونې او مسالې جوړولو کنده-

لانجې کونجې:(لاَن-جې-کون-جې)اسم- جمع- مؤنث- وګورئ لانجه کونجه-

لاندینے:(لان-دی-نے)اسم صفت- هغه چې لاندې وی- ښکتنے- ښکېنے- کوزنے-

لاندې:(لاَن-دې)متعلق فعل/صفت- کوز- ښکته- زېر-

لاندې اېستل:(لان-دې-اېس-تل)مصدر متعدی- لاندېستل-

لاندې باسل:(لاَن-دې-باسل)مصدر متعدی- وګورئ لاندېستل-

لاندې باندې:(لان-دې-بان-دې)متعلق فعل- (۱)کوز پاس- ښکته پورته- تړول- (۲)یو دَ بل دَ پاسه-

لاندېستل:(لاَن-دېس-تل)مصدر متعدی- (۱)لاندې باسل- لاندې اېستل- لاندې کول- زېر کول- (۲)راپرځول- راڅملول- راغورځول- (۳)کېرول- رانیول- راړول-

لاندېستنه:(لان-دېس-تنـ-نه)حاصل مصدر- وګورئ لاندېستل-

لاندېستون:(لاَن-دېس-تون)اسم- واحد- مذکر- بستره چې دَ کټ دَ پاسه خوروله شي- تولانې- توشک- تورشک- لاندېستونے-

لاندېستونکے:(لاَن-دېس-تون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ لاندېستل-

لاندېستونے:(لاَن-دېس-تو-نے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لاندېستون-

لاندېستهٔ:(لاَن-دېس-تهٔ)حاصل مصدر- وګورئ لاندېستل-

لاندے:(لاَن-دے)اسم- واحد- مذکر- (۱)وُچه غوښه- (۲)کړ- پسهٔ-

لاندے باندے:(لاَن-دے-باَن-دے)اسم مرکب- مذکر- (۱)ښکته والے پورته والے- (۲)تعلق- راشه درشه- واسطه- (۳)شخړه- ربړه- تنازعه- (۴)کمے زیاتے-

لانبېس:(لاَن-بېس)اسم- واحد- مذکر- وګورئ املتاس-

لانګه:(لانګ-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ یوې ونې نامه چې لرګے یَې ډېر سخت وی- (۲)وګورئ لنګه-

لانه:(لا-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لانې-

لانې:(لا-نې)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم واښهٔ چې دَ اوښانو مرغوبه خوراکه ده لیره یَې دَ کېږو وینځلو بکار راځي- لاړه- لانه-

لاوا:(لاَ-وا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لاوه-

لاوارث:(لا-وا-رث)اسم صفت- هغه چې څوک وارث یا حقدار نهٔ لري- چې څوک حقدار یَې نهٔ وی-

لاوبالی:(لاَو-با-لی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لاأبالی-

لاوبال:(لاَو-بال)اسم صفت- مذکر- وګورئ لاأبال-

لاورے:(لاو-رے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم زېړ ګل لرونکے بوټے چې دَ پسرلي پهٔ موسم کښې کېږی او دَ وښو پهٔ توګه استعمالولے شي-

لا وړم:(لا-وړم)اسم صفت- لا بل- لهٔ تېر شوی نه مخکښې تېر شوے- لهٔ بل نه وړاندې- لهٔ وړم نه وړاندې- عموماً دَ کال سره راځي لکه لا وړم کال-

لا وړمه:(لا-وړ-مه)اسم صفت- مؤنث- لا بله- لهٔ تېرې شوې نه مخکښې تېره شوې- لهٔ وړمې نه وړاندې- عموماً دَ ورځې یا شپې سره راځي لکه وړمه ورځ- وړمه شپه-

لاوړے:(لاو-ړے)اسم- واحد- مذکر- مولے- غوېټے-

لاؤ لسکر:(لاؤ-لس-کر)اسم مرکب- مذکر- دبدبه- شان و شوکت- زور او قوت-

لاون:(لا-ون)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لاوڼ-

لاوڼ:(لا-وڼ)اسم- واحد- مذکر- (۱)زېړې ښلومبې- پهٔ بټی کړې تېنګې ښلومبې- (۲)نکلے- ترکاری- سالن- پخکړے- اېکولے-

ئ- (ځی-ړل)، ې-(هې-ره-ول)، ی-(پیا-لی)، ے-(تن-دے) تفصیل دَ پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱-

www.pukhto.net

لاوني لګارپي:(لاو-ني-لـه-ګاړ-ني)اسم- جمع- مؤنث- چغل خوري- چغلي- وړه راوړه- د دوو کسو په مينځ کښې شيطاني کونه-

لا مم:(لا-مم)متعلق فعل- (۱)تر اوسه- لا پورې- (۲)تور پرې د پاسه-

لامو:(لا-مو)اسم صفت- (۱)اُبو بوب کړے- غرق- اُبو وړے- (۲)ضائع- تړی-

لاموت:(لا-موت)اسم- واحد- مذکر- په تصوف کښې د مقاماتو هغه درجه چې سالک ته پکښې د فنا فی الله مقام حاصليږي-

لاموره:(لا-مو-ره)اسم- واحد- مؤنث- د خټکی خربوزې وغيره بکری- تراره-

لامه:(لا-مه)اسم- واحد- مؤنث- لمه- حيمه- چقره- پصخه- برمه شته- جمع لامې-

لاې:(لا-ی)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)خټې- لهې- لامې- چترې- (۲)د مائع څيز خيرے چې د لوښي په ويخ کښې کيښني-

لاې:(لا-ی)اسم- واحد- مؤنث- معيبه- مصيته- غمونه- نفاړيه-

لائبريري:(لا-ئب-ري-ري)اسم- واحد- مؤنث- کتب خانه- دارالمطالعه-

لائبريرين:(لا-ئب-ري-ري-ين)اسم- واحد- مذکر- د کتب خانې منصم- لائبريري چلونکے-

لائت:(لائت)اسم- واحد- مؤنث- رڼا-

لائچ:(لا-ئچ)اسم صفت- ذرکمد- سکرد- صافر-

لائحه:(لا-ئ-حه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)څه روښان څيز- واضح څيز- ښکاره څيز- (۲)نمونه- (۳)فهرست- (۴)پروګرام- منصوبه-

لايزال:(لا-يه-زال)اسم صفت- (۱)زوال نه لرونکے- هميشه پاتې کيدونکے- دائمي- (۲)د الله تعالٰی صفت-

لائسنس:(لا-ئ-سنس)اسم- واحد- مذکر- اجازت نامه-

لايعقل:(لا-يع-قل)صفت- واحد- مذکر- بې عقله- ليوے-

لايعني:(لا-يع-ني)اسم صفت- فضول- بې معنی- بې فائدې-

لائق:(لا-ئق)اسم صفت- (۱)قابل- مناسب- موزون- (۲)حاضر- (۳)درست- سم- صحيح- (۴)اهل- جوګه-

لائقت:(لا-ئ-قت)اسم- واحد- مذکر- قابليت- لياقت- پوهه-

لائم:(لا-ئم)اسم صفت- ملامته کونکے- رټونکے- پرونکے- پېرکونکے-

لايموت:(لا-يه-موت)اسم صفت- غير فاني- نه مرکيدونکے- (۲)هغه خوراک چې صرف د ژوند قائم ساتلو د پاره کافي وي-

لائن:(لا-ئن)اسم- واحد- مذکر- کرښه- خط- د ريل ګاډي پټلئ- (۲)طرز- انداز- جمع لائنونه-

لاينحل:(لا-ين-حل)اسم صفت- نه حل کيدونکے- پيچيده- ګران-

لاينفک:(لا-ين-فک)اسم صفت- هغه چې جدا کيږي نه- نه جدا کيدونکے-

لاينقطع:(لا-ين-قه-طع)اسم صفت- نه پرې کيدونکے- مسلسل-

لابه:(لا-به)اسم صفت- تنګ- خالي- مسې- وزګار- ليه ليا- خوشې- ايله-

لابه:(لا-به)اسم- واحد- مؤنث- برتي- د کم قيمت څيز چې په بل څير کښې ګډ کړے شي او مطلوبه مقدار برابر وي-

لب:(لب)اسم- واحد- مذکر- (۱)شونډه- (۲)ژی- غاړه- (۳)وږمه- طرف- څنډه- (۴)ساحل- د دریاب غاړه- (۵)حاشيه- (۶)لمن-

لب:(لب)اسم- واحد- مذکر- مغز- لُبه- رس- عطر- جوهر- مغز- (۲)عقل او پوهه-

لب:(لب)اسم- واحد- مذکر- (۱)پوره- تمام- (۲)صرفه- اسره- دريغ-

لبادة:(لُ-با-ده)اسم- واحد- مؤنث- جغ- هغه انه چې د قُلبي کولو په وخت د دوارو غوايانو په شا پرته وي او د دواړه غوايان پرې يو ځای تړلے شي-

لبادة:(لـ-با-ده)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم نرمه نرمه چغه- اندرکه-

لباز:(لـه-باز)اسم صفت- ناخبره- نادان- ناپوهه-

لباس:(ل-باس)اسم- واحد- مذکر- (۱)جامې- کپړې- پوشاک- (۲)شکل- وضع- پوله-

لباس:(ل-باس)اسم- واحد- مذکر- (۱)ظاهرداري- پول پال- (۲)رياکاري- خان ښودنه- (۳)فريب- چل ول- تکی-

لباسي:(ل-با-سي)اسم صفت- رياکار- تکړن- دوکه باز- له رياکاری کار کوونکے-

لحاف:(لحاف)اسم صفت- رښې مرخونکے- د رسيو او پريو کاروبار کونکے-

لب جب:(لب-جب)اسم- واحد- مذکر- په څه طريقه سانډی خپل مقصد حاصلونه- تنل تپل-

لبور:(لـه-بور)اسم صفت- غټ کتې- بدشکله- بې پروه- مؤنث لبوره-

لبه پيده:(لب-به-پي-ده)متعلق فعل- په لوی لاس- ووبوه- ديده و دانسته-

لبرل:(لب-رل)اسم صفت- آزاد- خودمختار- د ټولو بيګره عبتونکے-

لبرل ازم:(لب-رل-ا-زم)اسم- واحد- مذکر- آزاد خيالي- د جمهوري او معاشرتي اصطلاحاتو د موافقت نظريه-

لبريز:(لب-ريز)اسم صفت- ډک- ډک تر خُلې- مؤنث لبريزه-

لبرو:(لب-رو)اسم صفت- مؤنث- بروغژنه- بې موده- بکواسي ښځه-

لبره:(لب-ره)اسم- واحد- مؤنث- مسئله- لانجه- ربړه- شخړه- جګړه-

لبع:(لبع)اسم- واحد- مذکر- يوه ووړی پنځې او زرده غوړی لرونکې مرغۍ- بيک-

لبغرے:(لب-غه-رے)اسم صفت- مذکر- (۱)نادار- مفلس- بې وسه- (۲)کمزورے- ناتوان- (۳)بيرته- لوح لغړ-

لبلاب:(لب-لاب)اسم- واحد- مذکر- يو قسم خطي لرونکے بوټے- پيروته- پېروتی- پيرچه- نباتاتي نوم ئيډيرا هيلکس HEDERA HELIX-

لب لباب:(لب-بل-باب)اسم- واحد- مذکر- خلاصه- نچوړ- ماحصل-

لبلبو:(لب-له-بو)اسم- واحد- مذکر- د ټيپرو د قسم يو بوټے چې چيني ترې وبستے شي- چقندر- نباتاتي نوم د پاره وګورئ چقندر-

لبلے:(لب-لے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ چريکے-

لبن:(لبن)اسم- جمع- مذکر- پی- شودے- شير-

لبنيات:(لب-ني-يات)اسم- جمع- مذکر- له پيو جوړ شوی خيرونه-

زبر (ح-يه-سره)، زورکے (شل)، پېښ (نو-کا-سره)، زمر (ک-ساب)، جزم (شکون)، ه (ر-وه)، ة (هو-سي-ده)

www.pukhto.net

لبوب (لَ-بُوب)اسم- جمع- دَ لب جمع- وګورئ لب-

لبوړے (لَه-بو-ړے)اسم- واحد- مذکر- د غرۀ کولبچ- ورسک- د غرۀ تېره شوکه- د غرۀ وربور- د غرۀ پوره- لبوزه- لبوزے-

لبوزه(لَه-بو-زه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لبوړے-

لبوزے (لَه-بو-زے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لبوړے-

لبول (لَه-بَه-ول)مصدر متعدی- لوبول- پۀ لوبه کښې خان سره شاملول- پۀ لوبو کول- وګورئ لوبول سره د لوازماتو-

لبه (لَه-بَه)اسم- واحد- مؤنث- لوبه- جمع لبې-

لبیب (لَه-بیب)اسم صفت- دانا- هوښیار- عقلمند- هوښیار-

لبیک (لَب-بیک)کلمه ایجاب- زۀ حاضر یم- زۀ موجود یم-

لبے (لَه-بے)اسم- واحد- مذکر- د مرغیو نیولو دام-

لپ (لَپ)اسم صفت- مذکر- وګورئ لپه-

لپ خټ (لَپ-خَټ)اسم صفت- ابله- بېمزه- زر تږوکے- لپ سټ-

لپ خور (لَپ-خور)اسم صفت- ملامت- پښېمان- ستومان- پۀ حېلو کړو خفه

لپړ (لَه-پړ)اسم- واحد- مذکر- رېږدېدنه- رپ ریے- لرزه- لرزان-

لپړ (لَه-پړ)اسم صفت- بربنډ- لغړ- د لوڅ سره استعمالیږي-

لپړ (لَه-پړ)اسم صفت- (۱)د هوار ضد- ګړوپ- کندوکپر- (۲)غیر مهذب- (۳)خوشے ګرځېدونکے- اواره ګرد- (۴)بدکار-

لپړل (لَپ-ړل)مصدر متعدی- پۀ یو مخصوصه طریقه پۀ لوبه کښې دَ مرز مښرانو ملکانو خان خان له د نورو ملګرو انتخاب کول-

لپړن (لَپ-ړن)حاصل مصدر- وګورئ لپړل-

لپړنه (لَپ-ړَنه)حاصل مصدر- وګورئ لپړل-

لپړو (لَپ-ړو)اسم صفت- (۱)وګورئ لاپړن- (۲)خوشے ګرځېدونکے- اواره ګرد-

لپړونکے (لَپ-ړون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ لپړل-

لپړه (لَپ-ړه)اسم صفت- مؤنث- بدکاره- کنجره- بدچلنه-

لپړی (لَپ-ړی)اسم- واحد- مؤنث- بې کاره ګرځېدنه- اواره ګردي-

لپړی (لَپ-ړی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پټۍ- دسمال- پهه- (۲)پټکے- دستار-

لپړی (لَپ-ړی)اسم- واحد- مؤنث- روه شلېدلې کپړه- صافي-

لپ سټ (لَپ-سټ)اسم صفت- وګورئ لپ خټ-

لپو (لَه-پو)اسم- واحد- د اُبو چپه- څپه- موج-

لپوس (لَه-پوس)اسم صفت- تنګدست- ناچار- بې وسه- مؤنث لپوسه-

لپه (لَه-په)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د څه څیز دَ ناپ کولو یا راچولو دَ پاره راغونډ کړے شوی دواړه غبرګ چونګه- (۲)دَ دواړو غبرګو چونګو مقدار-

لبیت (لَه-بیت)اسم- واحد- مذکر- لۀ پېو یا ماستو نه جوړ کړے شوے یو قسم نمکین څوراک- قوه-

لت (لَت)اسم- واحد- مذکر- (۱)خراب عادت- بد عادت- (۲)حوئ- خصلت- علت- (۳)دَ پښې ګوزار- لته- (۴)لاټ- امیر- دولتمند- مؤنث لته-

لتاړ (لَه-تاړ)اسم صفت- (۱)چخنی شوے- پائمال- تس نس- (۲)ختنه- نیننے- ککړ- (۳)تباه برباد- وران وېجاړ- مؤنث لتاړه-

لتاړول (لَه-تا-ړه-ول)مصدر متعدی- (۱)چخنی کول- پائمالول- تس نس کول- (۲)تباه کول- بربادول- وېجاړول- (۳)ختنه کول- نیننول- ککړول-

لتاړون (لَه-تا-ړه-ون)حاصل مصدر- وګورئ لتاړول-

لتاړونکے (لَه-تا-ړه-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ لتاړول-

لتاړونه (لَه-تا-ړه-ونه)حاصل مصدر- وګورئ لتاړول-

لتاړېدل (لَه-تا-ړې-دل)مصدر لازم- چخنی کېدل- پائمالېدل- تس نس کېدل- تباه کېدل- (۲)ختنه کېدل- ننګل- لړوېدل-

لتاړېدن (لَه-تا-ړې-دن)حاصل مصدر- وګورئ لتاړېدل-

لتاړېدنه (لَه-تا-ړې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ لتاړېدل-

لتاړېدونکے (لَه-تا-ړې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ لتاړېدل-

لتاړېدۀ (لَه-تا-ړې-دۀ)حاصل مصدر- وګورئ لتاړېدل-

لت پت (لَت-پَت)اسم صفت- لت پت- (۱)لمبولے- چاڼ کړے شوے- پۀ هر اړخ ککړلے- (۲)ګډوډ- دانه دانه- (۳)لت پت- لړلے- ککړ- (۲)خراب- پۀ بد حال-

لت کوپری (لَت-کوپ-ړی)اسم- واحد- مؤنث- کډه کوډه- مختلف لوازم یا سامان- لوښی لرګی- وول ډبلی- کاډي کوډی- لټ کوپړی-

لتوبړے (لَه-توب-ړے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ اتوب-

لتوکے (لَه-تو-کے)اسم- واحد- مذکر- یوه پلنې پلنې او سویه لښتې لرونکې ونه-

لته (لَه-ته)اسم- واحد- مؤنث- (۱)علاقه- خوا- خاوره- (۲)لاړ- لاره-

لته (لَه-ته)اسم- واحد- مؤنث- زوړ جامې- زوړ لباس- کینډړې-

لتی (لَه-تی)اسم- واحد- مؤنث- د کشتی یو داؤ- د حریف دَ راغرځولو پۀ غرض د هغۀ پښې ته ببه اړومه- لنکشتی- انګړیتی- اړنګشتی- اړنګی- رنګسی-

لټ (لَټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ اوړو یا دَ کانی یوه برزه چې څرخ پرې چورلي- محور- څورلېچ- (۲)دَ مارغانو یا کېډرانو نیولو کړکی- پړکه-

لټ (لَټ)صفت- واحد- مذکر- ناراست- بېکاره- سست- ارام طلب- بوم- سخنه- ناږام-

لټ (لَټ)اسم- واحد- مذکر- حد- پوله- بریده- بند- کربنه-

لټ (لَټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)بری- ولونه- (۲)رسی- بیاسته-

لټ پټ (لَټ-پَټ)اسم صفت- (۱)ړولے شوے رازولے شوے- اړخ پۀ اړخ کښے شوے- لټولے شوے- (۲)وګورئ لت پت-

لټ پټی (لَټ-پَټی)اسم صفت- مؤنث- وګورئ اړووسې-

لټ پر لټ (لَټ-پر-لَټ)متعلق فعل- ووې پۀ ووی- اړخ پۀ اړخ- لټ پۀ لټ- لټ پۀ لته- ګټ پۀ ګټ-

ڼ (ڼی-رل)، ټ (ټي-ړه-ول)، ټ (ټیا-لی)، ړ (ړی-ړی) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

لټ په لټ:(لټ-په-لټ)متعلق فعل- وګورئ لټ پر لټ-
لټ په لټه:(لټ-په-لې-ټه)متعلق فعل- وګورئ لټ پر لټ-
لټپېر:(لټ-پېر)اسم- واحد- مذکر- حمله- يرغل- ځله- ناڅاپي حمله-
لټ توب (لټ-توب)اسم- واحد- مذکر- سستي- ناراستي- لټيدا- ارام طبي- لټوالے-
لټتيا:(لټ-تيا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لټ توب-
لټر پټر (لټر-پټر)اسم- جمع- مذکر- الا بلا- بلا ببټ- يو ځو بل ځځ- مختلف څيزونه- لټه پټه-
لټري:(لټ-ري)اسم- واحد- مؤنث- د غلې يو قسم- لوبيا- نباتاتي نوم ډوليکاس سائنسس (DOLICHOS SINENSIS)-
لټ کوپرې:(لټ-کوپ-رې)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لت کوپرې-
لټکه:(لټ-که)اسم- واحد- مؤنث- د مار يو قسم- دوسري- لنډي- کورمار- جمع لټکې-
لټکه:(لټ-که)اسم- واحد- مؤنث- پخه توره- ځله اړولې توره-
لټکه:(لټ-که)اسم- واحد- مؤنث- د پنير هغه حصه چې بکرې له ئې راخلاصوي او اُور ترې پيدا کيږي-
لټېږ:(لټ-ټېږ)اسم صفت- (۱)وارخطا- ناقلار- مضطرب- (۲)لټونکے- پلټونه-
لټوالے:(لټ-والے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لټتوب-
لټول:(لټ-ټول)مصدر متعدي- ناراسته کول- سستول- ناړامول- ډومول-
لټول:(لټ-ټول)مصدر متعدي- معلومول- کتل- لټون کول- د راپيدا کولو کوشش کول-
لټولے:(لټ-ټو-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ لټول ۲-
لټون:(لټ-ټون)حاصل مصدر- وګورئ لټول-
لټون:(لټ-ټون)اسم- واحد- مذکر- پوون- تلاش- معلومونه- کتنه- لټه را پيدا کونه-
لټون:(لټ-ټون)حاصل مصدر- وګورئ لټول-
لټونکے:(لټ-ټوون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ لټول-
لټونکے:(لټ-ټوون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ لټول-
لټونه:(لټ-ټو-ڼه)حاصل مصدر- وګورئ لټول-
لټونه:(لټ-ټو-ڼه)حاصل مصدر- وګورئ لټول-
لټه:(لټ-ټه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لټون-
لټه:(لټ-ټه)اسم صفت- د لټ مؤنث- ناراسته- سسته- ناړامه- ډومه- جمع لټې-
لټه:(لټ-ټه)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم سپينه تاريزه کپړه-
لټه:(لټ-ټه)اسم- واحد- مؤنث- غم- د زړه نول- درد- جمع لټې-
لټه پټه:(لټ-ټه-پټ-ټه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لټر پټر-
لټه پېر:(لټ-ټه-پېر)اسم- واحد- مذکر- ټپل ټال- خرمستي- اتهوخره-
لټېدل:(لټ-ټې-دل)مصدر لازم- معلومول- تلاش کېدل- کتلے کېدل- پوون کېدل- د راپيدا کېدو کوشش کېدل-
لټېدل:(لټ-ټې-دل)مصدر لازم- ناراستېدل- سستېدل- ناړامېدل-
لټېدن:(لټ-ټې-دن)حاصل مصدر- وګورئ لټېدل ۱، ۲-
لټېدنه:(لټ-ټې-دڼه)حاصل مصدر- وګورئ لټېدل-
لټېدنه:(لټ-ټې-دڼه)حاصل مصدر- وګورئ لټېدل-
لټېدونکے:(لټ-ټې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ لټېدل-
لټېدونکے:(لټ-ټې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ لټېدل-
لټېدهٔ:(لټ-ټې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ لټېدل-
لټېدهٔ:(لټ-ټې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ لټېدل-
لټېره:(لټ-ټې-ره)اسم- واحد- مذکر/مؤنث- ناراست- لټ يا لټه- ارام طلب-
لټېنګر:(لټ-ټېنګ-ګر)اسم- واحد- مذکر- د ملخانو يو قسم-
لڅ:(لڅ-څ)اسم- واحد- مذکر- لوندوالے- نم والے- لونديدنه- خشتوالے-
لڅم:(لڅ-څم)اسم- واحد- مذکر- پوه ورکونه- ښکلېدنه- چپېدنه- ځپېدنه-
لڅه:(لڅ-څه)اسم- واحد- مؤنث- د غانبونو لهٔ وبخ نه چاپېره غوښه- وری-
لج:(لج)اسم- واحد- مذکر- (۱)ضد- مخالفت- ځېل- موږه- (۲)لانجه- شخړه-
لج:(لج)اسم- واحد- مذکر- لته- لت- لغته- د پښې ګوزار-
لجاجت:(لج-جا-جت)اسم- واحد- مذکر- عاجزي- زاري- منت- خوشامندي- (۲)ضد- لج- ځېل- موږه- (۲)لانجه- تنازعه-
لجام:(لج-جام)اسم- واحد- مذکر- راکې- لګام- ملونه-
لجلاج:(لج-لاج)اسم صفت- (۱)تتړې- نيم ژبے- تړتړے- ګنګوړے- (۲- اسم- واحد- مذکر اصفا کړے شوی پاره-
لجم:(لج-جم)اسم- واحد- مذکر- د تالاب په وېخ کښې جمع شوې بدبويه لهه- خټه- لجن-
لجن:(لج-جن)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لجم-
لجنه:(لج-نه)اسم- واحد- مؤنث- مرکه- انجمن- جرګه- کمېټۍ-
لجوج:(لج-جوج)اسم صفت- ضد- جګړمار- په خپله خبره ضدي کونکے- ځېلي- موږي-
لجه:(لج-جه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)سيند- سين- دريابـ- (۲)چورلنديے- غوټي- ګرداو- ګرداب-
لجين:(لج-جين)اسم- واحد- مذکر- سپين زر- چاندي-
لچ:(لچ)اسم صفت- ولاړ- نيغ- لګ-
لچ:(لچ)اسم- واحد- مذکر- رخسار- بارخو- غمبورے-
لچ:(لچ)اسم صفت- (۱)بربنډ- لغړ- لڅ- لوڅ- لپړ- (۲)بدکار- بدچلن- اواره-
لچ:(لچ)اسم- واحد- مذکر- د زخم ځله ورتلنه- پوټ نيونه- انګورېدنه-
لچ:(لچ)اسم- واحد- مذکر- د زخم درد- خوږ- ګړيکه-
لچر:(لچ-چر)اسم صفت- کمينه- رذيل- لوچه- کم اصل- بې شرم- بې حيا- لچه- لچک- لنډور- سپين سترګے- مؤنث لچره-

زبر¯(ح-سه-ره)، وورکے¯(شل)، ¨پېش(تو کا-ره)، رمز¯(ک-تاب)، حرم¯(شکوني)، ¯ه¯(ر-وه)، ¯هٔ(پو سي دهٔ)

www.pukhto.net

لڇرتوب:(لہ-چر-توب)اسم- واحد- مذکر- کمینگي- رذالت- لوچه توب- بې شرمي- بې حیائي- لنډورتوب- لڇرتیا- لڇري- لنډورتیا-

لڇرتیا:(لہ-چِر-تیا)اسم- مؤنث- وګورئ لڇرتوب-

لڇري:(لہ-چہ-ري)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لڇرتوب-

لڇک:(لہ-چک)اسم- واحد- مذکر- د سر تړلو رومال- کپړه- سروپڇک-

لڇک:(لہ-چک)اسم- واحد- مذکر- (۱)پوست والے- نرمي- (۲)دَ څهٔ ګیز پهٔ نزاکت سره حرکت کونه- (۳)دَ اجسامو دَ غځیدو، کږیدو، راغنډیدو او بیرته خپل حالت ته دَ تللو قوت- (۴)کږوالے- خم- کوږوالے-

لڇک:(لہ-چک)اسم صفت- وګورئ لڇر-

لوازمات :(لَـوا-زِ-مات)اسم جمع- دُ لازم جمع الجمع- وګوری لوازم- (م- عربی)-
لوامشر :(ل-وا-مشر)اسم صفت- دُ فوځی دستې مشر- سرلښکر- (افغانستان)-
لواشه :(لـِوا-شه)اسم- واحد- مؤنث- چپاتی- نری روټی- ډوډی-
لوانړے :(لَوان-ړے)اسم- واحد- مذکر- کړے- کړمے- جمع لوانړی-
لوانګ :(لـِوانګ)اسم- واحد- مذکر- دُ غرهٔ لمن- دُ غرهٔ دُ غاړې زمکه-
لوانح :(لَـوا-اِح)اسم- جمع- د لائحې جمع- (۱)دستورونه- قاعدې (۲)رهاکانې- (م- عربی)-
لوباتل :(لو-با-تل)مصدر متعدی- قسمې کول- قسم ورکول-
لوباتلے :(لو-با-تهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- مؤنث لوباتلې- جمع لوباتلی- وګوری لوباتل-
لوباتن :(لو-با-تن)حاصل مصدر- وګوری لوباتل-
لوباتنګ :(لو-با-تنګ)حاصل مصدر- وګوری لوباتل-
لوباتنه :(لو-با-تڼه)حاصل مصدر- وګوری لوباتل-
لوباتونکے :(لو-با-تون-کے)اسم فاعل- جمع لوباتونکی- مؤنث لوباتونکې- وګوری لوباتل-
لوبان :(لو-بان)اسم- واحد- مذکر- د یو قسم ونې خوشبودار چیړ- (م- هندی)-
لوبتک :(لوب-تک)اسم- واحد- مذکر- (۱)ګوډاګے- (۲)لوبغاړے-
لوبتکه :(لوب-تـه-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د لوبو څیز- (۲)ګوډۍ- جمع لوبتکې-
لوبټ :(لو-بټ)اسم- واحد- مذکر- وګوری لوپټ-
لوبځے :(لوب-ځے)اسم- واحد- مذکر- دُ لوبو ځائ- دُ لوبو مېدان- لوبغالے- (افغانستان)-
لوبره :(لو-بـره)اسم- واحد- مؤنث- لومبړه-
لوبغاړے :(لوب-غا-ړے)اسم صفت- لوبګر- (۱)لوبه کونکے- پهٔ لوبه پوهٔ- (۲)ماهر- اُستاد- پهٔ څهٔ کار پوهٔ- جمع لوبغاړی- مؤنث لوبغاړې-
لوبغالے :(لوب-غا-لے)اسم- واحد- مذکر- د لوبو ځائ- لوبځے- ستېډیم-

(افغانستان)-

لوبګر:(لو-بګر)اسم صفت- مؤنث لوبګره- وګورئ لوبغاړے-

لوبول:(لو-به-ول)مصدر متعدی- (۱)په لوبو کول- مشغولول- (۲)په چا په چل ول خپل کارونه کول- الله کار جوړول- (۳)پیسي په داؤ ایښودل- په پیسو جواری کول-

لوبولے:(لو-به-وڅلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- مؤنث لوبولې- جمع لوبولی- وګورئ لوبول-

لوبون:(لو-به-ون)حاصل مصدر- وګورئ لوبول-

لوبونکے:(لو-به-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع لوبونکی- مؤنث لوبونکې- وګورئ لوبول-

لوبونګ:(لو-به-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ لوبول-

لوبونه:(لو-به-وڼه)حاصل مصدر- وګورئ لوبول-

لوبوونے:(لو-به-وو-نے)اسم صفت- (۱)لوبونکے- مشغولونکے- (۲)اچالاک- لوبغاړے-

لوبه:(لو-به)اسم- واحد- مؤنث- (۱)تماشه- ننداره- (۲)مشغله- د شغل کار- د مشغولتیا کار- (۳)سبل- (۴)اثر- د څه څیز له اثره پیدا شوي خبره یا کار- جمع لوبې-

لوبه:(لو-به)اسم- واحد- مؤنث- د پښتو د اولسي شاعرۍ یو مشهور صنف- د اولسي سندرو یو قسم-

لوبیا:(لو-بیا)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم غله چي ګنګري تري پخولے شي- باکری- د نباتاتي نوم د پاره وګورئ لبړی-

لوبېدل:(لو-بې-دل)مصدر لازم- (۱)لوبي کول- مشغولېدل- (۲)په چل ول کار اخستلے کېدل- د چا الله کار جوړېدل- (۳)په داؤ ایښودلے کېدل- (۴)تجربه پیدا کېدل- ماهر کېدل-

لوبېدلے:(لو-بې-دڅلے)اسم مفعول- جمع لوبېدلی- مؤنث لوبېدلې- وګورئ لوبېدل-

لوبېدن:(لو-بې-دن)حاصل مصدر- وګورئ لوبېدل-

لوبېدنګ:(لو-بې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ لوبېدل-

لوبېدنه:(لو-بې-دڼه)حاصل مصدر- وګورئ لوبېدل-

لوبېدونکے:(لو-بې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ لوبېدل-

لوبېدهٔ:(لو-بې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ لوبېدل-

لوبي غاړی:(لو-بي-غا-ړی)اسم مرکب- ماشومان په خپلو کښي مشغولېدنه- د ورو لوبي-

لوپ:(لوپ)اسم- واحد- مذکر- چل- هنر-

لوپټکی:(لو-پټ-کی)اسم تصغیر- د لوپټې تصغیر- وړه لوپټه- سپکه لوپټه- څپوټکے- لوپټکی-

لوپټکی:(لو-پټ-کی)اسم تصغیر- وګورئ لوپټکی-

لوپټه:(لو-پټه)اسم- واحد- مؤنث- د زنانو د سر څپوټے- جمع لوپټې-

لوپه لوپه:(لو-په-لو-په)صفت مرکب- ګنځي ګنځي- ګالګوټي- ګلګوټي- ګالګوټي- ګنجي ګنجي-

لوت:(لوت)اسم صفت- ناراست- لټ- سست- مؤنث لوته- جمع لوتونه-

لوتبه:(لو-تڅبه)اسم- واحد- مؤنث- لویه تبه- وړه تبه- تپ محرقه-

لوته:(لو-ته)اسم- واحد- مؤنث- کڅوړه- ګتی- تپلی- جمع لوتې-

لوټ:(لوټ)اسم- واحد- مذکر- کاغذي سکه- نوټ- جمع لوټونه-

لوټ:(لوټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)تباهي- تالان- ظلم- غارت- ډاکه- (۲- صفت)تباه شوے- تالا- تاراج-

لوټ باز:(لوټ-باز)اسم صفت- لوټونکے- ډاکه مار- ډاکو- لوټمار- ظالم- لوټپرے-

لوټ بند:(لوټ-بند)اسم صفت- بې آرام- وارخطا- ویرېدونکے- ناقلار- مضطرب- لوټ پوټ-

لوټ پاټ:(لوټ-پاټ)اسم مرکب- مذکر- (۱)لوټ تالان- لوټ مار- لوټنه او تالا کونه- (۲- صفت)لوټلے شوے- تالا- تباه کړے شوے-

لوټ پوټ:(لوټ-پوټ)اسم صفت- (۱)وګورئ لوټ بند- (۲)عاشق- مئین- په مینه کښي غرق- (۳)لاندي باندي- د یو بل د پاسه-

لوټکه:(لوټ-که)اسم- واحد- مؤنث- سرکوټهی- سورلکی- بازیګره- سر لاندي او پښي پورته کونه او پرمخي اوړېدنه- بازینګنهه- لوټکے- بازینګټه- جمع لوټکي-

لوټکے:(لوټ-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لوټکه- جمع لوټکي-

لوټکے:(لوټ-کے)اسم- واحد- مذکر- یو خارږن غنډے زوړ لوښے چي د اُبو څښلو او د لرټ نه د اُبو راویستلو د پاره پکارولے شي- جمع لوټکي-

لوټکے:(لوټ-کے)اسم- واحد- مذکر- د نغري یوه پښه- د نغري پایه- جمع لوټکي-

لوټل:(لو-ټل)مصدر متعدی- تباه کول- تالا کول- غارت کول- تاراج کول- په زور اخستل- په ظلم اخستل- لوټول-

لوټلے:(لو-ټڅلے)اسم مفعول- مؤنث لوټلې- جمع لوټلی- وګورئ لوټل-

لوټ مار:(لوټ-مار)اسم مرکب- مذکر- تباهي او تالان- ظلم- غارت- ډاکه- لوټماری-

لوټمار:(لوټ-مار)اسم صفت- وګورئ لوټباز-

لوټماری:(لوټ-ما-ری)اسم مرکب- مؤنث- وګورئ لوټ مار-

لوټماله:(لوټ-ما-له)اسم- واحد- مؤنث- له لرګیو یا تختو نه جوړه هغه آله چي د قلبي یا ټرېکټر په ذریعه پري د ساډین لوټي هوارولے یا میده کولے شي- ماله- لوټمل- جمع لوټمالي-

لوټمل:(لوټ-مل)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لوټماله-

لوټن:(لو-ټن)حاصل مصدر- وګورئ لوټل-

لوټنګ:(لو-ټنګ)حاصل مصدر- وګورئ لوټل-

ی- (ځی-رل)، ې(مې-رو-ول)، ی(پیا-لی)، ے(تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

لوتېته:(لو-تې-ته)حاصلِ مصدر- وګورې لوتېل-

لوتېول:(لو-تې-ول)مصدرِ متعدی- وګورئ لوتېل-

لوتېون:(لو-تې-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ لوتېل-

لوتېونکے:(لو-تېون-کے)اسم فاعل- جمع لوتېونکی- مؤنث لوتېونکې- وګورئ لوتېل-

لوتېونکے:(لو-تې-وون-کے)اسم فاعل- مؤنث لوتېونکې- جمع لوتېونکی- وګورئ لوتېل-

لوتېونګ:(لو-تې-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ لوتېل-

لوتېونه:(لو-تې-و-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ لوتېل-

لوته:(لو-ته)اسم- واحد- مؤنث- د حاورو چمګے- غنډه-

لوته:(لو-ته)اسم- واحد- مؤنث- د کوری په شان خو لهٔ کوزې نه لږ وړوکے د اُبو لوښے- لېته-

لوته لوته:(لو-ته-لو-ته)اسم صفت- مرکب- دانه دانه- غنډاری غنډاری- بېل بېل-

لوتېدل:(لو-تې-دل)مصدرِ لازم- تباه کېدل- تالا کېدل- په زور اخستے کېدل-

لوتېدن:(لو-تې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ لوتېدل-

لوتېدنګ:(لو-تې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ لوتېدل-

لوتېدنه:(لو-تې-دنه)حاصلِ مصدر- وګورئ لوتېدل-

لوتېدونکے:(لو-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ لوتېدل-

لوتېده:(لو-تې-ده)حاصلِ مصدر او د ماضی استمراری دٔ واحد غائب صیغه- وګورئ لوتېدل-

لوتېرے:(لو-تې-رے)اسم صفت- وګورئ لوتباز-

لوتې لوتې:(لو-تې-لو-تې)اسم صفت- مرکب- (۱)هغه ځائې چرته چې پېرې لوتې یا چمان وی- (۲)چمان چمان- غنډاری غنډاری- د لوټو په شان- (۳)ورانۍ- تباه- ویجاړ-

لوتے:(لو-تے)اسم صفت- مصول کرحمدونکے- اواره- تښپاپې- تښماتے- مطس- مادار-

لوث:(لوث)اسم- واحد- مذکر- (۱)ګډه- ګډون- امېزش- (۲)داغ- عیب-

لوچ:(لوچ)اسم صفت- (۱)کم اصل- کمینه- لچر- لوفر- فضول- بداخلاقه- لوچک- لوچه- (۲)وګورئ لوڅ- مؤنث لوچه-

لوچک:(لو-چک)اسم صفت- لوڅک- (۱)وګورئ لوچ- (۲)هغه حیوان چې وېښتهٔ پرې نهٔ وی- مؤنث لوچکه-

لوچکی:(لو-چه-کی)اسم- واحد- مؤنث- ماشوره- دٔ تار غنډارے-

لوچ لغړ:(لوچ-له-غړ)اسم صفت- وګورئ لوڅ لغړ-

لوچه:(لو-چه)اسم صفت- وګورئ لوچ-

لوچه توب:(لو-چه-توب)اسم- واحد- مذکر- کمینه توب- کم اصل توب- بداخلاقی-

لوچې:(لو-چې)اسم- واحد- مؤنث- سری چهاتی یا پراته چې په عورو کښې پحولے شي- قتلمه- پوری- پوتی-

لوڅ:(لوڅ)اسم صفت- بربنډ- بېخې لغړ- لوچ- لڅ- مؤنث لوڅه-

لوڅ پوڅ:(لوڅ-پوڅ)متعلق فعل- ړوی په ړوې- لوټ په لوټ- په مره ړوه-

لوڅتوب:(لوڅ-توب)اسم- مذکر- بربنډوالے- بربنډتوب- لوڅوالے- لغړتوب-

لوڅک:(لو-څک)اسم صفت- وګورئ لوچک-

لوڅکه:(لو-څه-که)اسم- واحد- مؤنث- کوړی- ننڅکه- لوبتکه- لوڅکی- جمع لوڅکې-

لوڅکی:(لو-څه-کی)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ لوڅکه-

لوڅکے:(لو-څه-کے)اسم صفت- خوشامندګر- چاپلوس-

لوڅ لغړ:(لوڅ-له-غړ)اسم صفت- مرکب- لوچ لغړ- بربنډ لغړ- بېخې بربنډ- بېخې لغړ- مؤنث لوڅه لغړه-

لوڅول:(لو-څه-ول)مصدرِ متعدی- (۱)بربنډول- لغړول- (۲)بې عزته کول- سپکول- لهٔ حیا خلاصول-

لوڅون:(لو-څه-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ لوڅول-

لوڅونکے:(لو-څه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع لوڅونکی- مؤنث لوڅونکې- وګورئ لوڅول-

لوڅونګ:(لو-څه-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ لوڅول-

لوڅونه:(لو-څه-و-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ لوڅول-

لوڅه:(لو-څه)اسم- واحد- مؤنث- په مېلمنو د روټی خوړلو وار- دٔ پښتنو د خو قبیلو هغه دستور چې پکښې په مېلمنو په وار وار روټی خوړولے سی-

لوڅې پوڅې:(لو-څې-پو-څې)اسم- جمع- مرکب- (۱)منتونه زاری- ژړا فریاد- (۲)دٔ ځنکدن یا دٔ مرض په سختۍ کښې لاس و پښې ټکونه- د بې وسۍ او پرېشانۍ څرګندونه-

لوڅېدل:(لو-څې-دل)مصدر لازم- (۱)بربنډېدل- لغړېدل- (۲)بې عزته کېدل- سپکېدل- لهٔ حیا خلاصېدل-

لوڅېدل:(لو-څې-دل)مصدر لازم- اوړېدل راوړېدل- پړې په پړې اوړېدل-

لوڅېدلے:(لو-څې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ لوڅېدل-

لوڅېدن:(لو-څې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ لوڅېدل-

لوڅېدن:(لو-څې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ لوڅېدل-

لوڅېدنګ:(لو-څې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ لوڅېدل-

لوڅېدنګ:(لو-څې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ لوڅېدل-

لوڅېدنه:(لو-څې-دنه)حاصلِ مصدر- وګورئ لوڅېدل-

لوڅېدنه:(لو-څې-دنه)حاصلِ مصدر- وګورئ لوڅېدل-

لوڅېدونکے:(لو-څې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع لوڅېدونکی- مؤنث لوڅېدونکې- وګورئ لوڅېدل-

لوڅېدونکے:(لو-څې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر-جمع لوڅېدونکی- مؤنث لوڅېدونکې- وګورئ لوڅېدل-

www.pukhto.net

لوښېدهٔ:(لو-ښې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دٔ ماضی استمراری دٔ واحد غائب صیغه- وګورئ لوښېدل-

لوګېدهٔ:(لو-ګې-دهٔ)حاصلِ مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ لوګېدل-

لوح:(لوح)اسم- واحد- مذکر- (۱)د لیکلو تختئ- (۲)د قبر د سر کاڼے- شناخته- (۳)سرورق- دٔ کتاب پاسنے مخ- دٔ کتاب دٔ سر صفحه-

لوخ:(لوخ)اسم- واحد- مذکر- د مزری په شان یو قسم واښهٔ- لوخه- نباتاتی نوم ټائیفاانګس ټفولیا (TYPHA ANGUSTIFOLIA)- (۲)صفت- کوه ملا لړونکے- ټیے-

لوخه:(لو-خه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لوخ-

لوخړن:(لو-خه-ړن)اسم صفت- وګورئ لوغړن- مؤنث لوخړنه-

لوخړول:(لوخ-ړ-ول)مصدرِ متعدی- لغړول- لوغړول- پړی په پړی اړول- ټوغلول-

لوخړولے:(لوخ-ړ-و-ځلے)اسمِ مفعول- واحد- مذکر- جمع لوخړولی- مؤنث لوخړولې- وګورئ لوخړول-

لوخړون:(لوخ-ړ-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ لوخړول-

لوخړونکے:(لوخ-ړ-رون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع لوخړونکی- مؤنث لوخړونکې- وګورئ لوخړول-

لوخړونګ:(لوخ-ړ-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ لوخړول-

لوخړونه:(لوخ-ړ-و-ځنه)حاصلِ مصدر- وګورئ لوخړول-

لوخړه:(لو-خه-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)لوخزه- ډېر لوګے- پیوړه- لیخړه- لومړه- (۲)صفت- تباه- برباد- تالا-

لوخړېدل:(لوخ-ړي-دل)مصدرِ لازم- لغړېدل- لوغړېدل- پړی په پړی اوړېدل- توغلېدل- رغښتل-

لوخړېدلے:(لوخ-ړی-دځلے)اسمِ مفعول- واحد- مذکر- جمع لوخړېدلی- مؤنث لوخړېدلې- وګورئ لوخړېدل-

لوخړېدن:(لوخ-ړي-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ لوخړېدل-

لوخړېدنګ:(لوخ-ړی-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ لوخړېدل-

لوخړېدنه:(لوخ-ړی-دځنه)حاصلِ مصدر- وګورئ لوخړېدل-

لوخړېدونکے:(لوخ-ړي-دون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع لوخړېدونکی- مؤنث لوخړېدونکې- وګورئ لوخړېدل-

لوخړېدهٔ:(لوخ-ړي-دهٔ)حاصلِ مصدر او دٔ ماضی استمراری دٔ واحد غائب صیغه- وګورئ لوخړېدل-

لوخزه:(لو-خه-زه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لوخړه-

لوخه:(لو-خه)اسم- واحد- مؤنث- دٔ مزری په شان یو قسم واښهٔ چې هم دٔ مزری کار ترې اخستے شي- لوخ-

لود:(لود)اسم- واحد- مذکر- د عرهٔ لمن-

لودانه:(لو-دا-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ګمڅی-

لودل:(لو-دل)مصدر- متروک- وګورئ لل-

لوده:(لو-ده)اسم صفت- شوده- کم عقل- احمق- بوله-

لوډ:(لوډ)اسم- واحد- مذکر- بوج- وزن- بار- (م- انګرېزی)-

لوډسپیکر:(لوډ-سپی-کر)اسم- واحد- مذکر- اواز تېزونکې اله- هغه اله چې اواز تر لرې لرې رسوی- لاؤډسپیکر- (م- انګرېزی)-

لودعی:(لو-ذه-عی)اسم صفت- ډېر زیات عقلمند- هوښیار- هښیار- زیرک- (م- عربی)-

لور:(لور)اسم- واحد- مذکر- د فصل یا وښو رېبلو لوزار-

لور:(لور)اسم- واحد- مذکر- طرف- پهه- اړخ- خوا- لورے-

لور:(لور)اسم- واحد- مذکر- ښهٔ سلوک- رواداری- مهربانی-

لور:(لور)اسم- واحد- مؤنث- دٔ ځوئ ضد- زنانه اولاد- جمع لوڼه-

لورک:(لورک)اسم- واحد- مذکر- کیډړ- شغال-

لورول:(لو-ر-ول)مصدرِ متعدی- ښهٔ سلوک کول- رواداری کول- خلوص کول-

لورولے:(لو-ر-و-ځلے)اسمِ مفعول- واحد- مذکر- جمع لورولی- وګورئ لورول-

لورون:(لو-ر-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ لورول-

لورونکے:(لو-ر-رون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع لورونکی- مؤنث لورونکې- وګورئ لورول-

لورونګ:(لو-ر-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ لورول-

لورونه:(لو-ر-و-ځنه)حاصلِ مصدر- وګورئ لورول-

لورېدل:(لو-ري-دل)مصدرِ لازم- ښهٔ سلوک کېدل- رواداری کېدل- اخلاص کېدل-

لورېدلے:(لو-ري-دځلے)اسمِ مفعول- جمع لورېدلی- مؤنث لورېدلې- وګورئ لورېدل-

لورېدن:(لو-ري-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ لورېدل-

لورېدنګ:(لو-ري-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ لورېدل-

لورېدنه:(لو-ري-دځنه)حاصلِ مصدر- وګورئ لورېدل-

لورېدونکے:(لو-ري-دون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر-جمع لورېدونکی- مؤنث لورېدونکې- وګورئ لورېدل-

لورېدهٔ:(لو-ري-دهٔ)حاصلِ مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ لورېدل-

لوړ:(لوړ)اسم صفت- مذکر- وربغ- ؤچت- دنګ- بلند- مؤنث لوړه-

لوړ:(لمړ)اسم- واحد- مذکر- کوتک- پیره ښنه- ډانګ- ډانګے-

لوړ:(لوړ)اسم- واحد- مذکر- قسم- حلف- سوګند- لوړه-

لوړا:(لو-ړا)اسم صفت- لوړاپوک- لوړ دنګ- وچت قد لړونکے- (۲)کم عقل- بیوقوف-

لوړاپوک:(لو-ړا-پوک)اسم صفت- وګورئ لوړا-

لوړاوے:(لو-ړا-وے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ؤچتوالے- لوړوالے- لوړتیا-

www pukhto net

لوړتوب۔ بلندي۔ دنګ والے۔ (۲)درناوے۔ اعزاز۔ سرخروئي۔

لوړتوب:(لوړ-توب)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ لوړاوے۔

لوړتيا:(لوړ-تيا)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ لوړاوے۔

لوړز:(لوم-ړز)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ مرز۔ بهېر۔

لوړژور:(لوړ-ژمور)اسم صفت۔ (۱)ناهموار۔ کهوړ۔ هغه چې څهٔ لوړ او څهٔ ژور وي۔ ناهوار۔ (۲)اسم۔ لوړوالے او ژوروالے۔ ناهمواري۔ (۳)تصادف۔ مرق۔ مؤنث لوړه ژوره۔

لوړکے:(لوهٔ-ړمکے)اسم صفت۔ د لوړ اسم تصغير۔ معمولي لوړ۔ دنګ۔ لهٔ حده لږ شان لوړ، وچت۔ جمع لوړکي۔

لوړل:(لو-ړل)مصدر متعدي۔ قسم خوړول۔ سوګند پورته کول۔

لوړماڼۍ:(لوړ-ماڼۍ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ لړمانۍ۔

لوړماڼ:(لوړ-ماڼ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ لړمانۍ۔

لوړن:(لو-ړن)حاصل مصدر۔ وګورئ لوړل۔

لوړنګ:(لو-ړنګ)حاصل مصدر۔ وګورئ لوړل۔

لوړنه:(لو-ړمنه)حاصل مصدر۔ وګورئ لوړل۔

لوړنے (لو-ړمنے)اسم صفت۔ قسم خوړونکے۔ سوګند پورته کونکے۔ جمع لوړني۔

لوړو:(لو-ړو)اسم صفت۔ قسم خور۔ پهٔ مره خبره قسم خوړونکے۔ چتي پهٔ چتي سوګند پورته کونکے۔

لوړواله:(لوړ-واله)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وچتوالے۔ بلندي۔ لوړوالے۔

لوړوالے:(لوړ-والے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ لوړاوے۔

لوړ و ژور:(لوړ-و-ژمور)اسم صفت۔ وګورئ لوړ ژور۔

لوړول(۱):(لوهٔ-ړمول)مصدر متعدي۔ (۱)وچتول۔ جګول۔ قد زياتول۔ (۲)ترقي ورکول۔ (۳)عزت ورکول۔ درناوے کول۔ درنول۔

لوړول(۲):(لوهٔ-ړمول)مصدر متعدي۔ لهٔ څهٔ څيزه توتې بېلول۔ نړول۔ نئول۔ ورانول۔

لوړول:(لو-ړمول)مصدر متعدي۔ قسم ورکول۔ سوګند ورکول۔ پهٔ چا حلف وچتول۔

لوړولے:(لوهٔ-ړموځلے)اسم مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ جمع لوړولي۔ مؤنث لوړولې۔ وګورئ لوړول(۲)۔

لوړولے:(لو-ړموځلے)اسم مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ جمع لوړولي۔ مؤنث لوړولې۔ وګورئ لوړول۔

لوړون:(لوهٔ-ړمون)حاصل مصدر۔ وګورئ لوړول(۱)۔

لوړون:(لوهٔ-ړمون)حاصل مصدر۔ وګورئ لوړول(۲)۔

لوړون:(لو-ړمون)حاصل مصدر۔ وګورئ لوړول۔

لوړونکے:(لوهٔ-ړموون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع لوړونکي۔ مؤنث لوړونکې۔ وګورئ لوړول(۱)۔

لوړونکے:(لوهٔ-ړموون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع لوړونکي۔ مؤنث لوړونکې۔ وګورئ لوړول(۲)۔

لوړونکے:(لو-ړموون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع لوړونکي۔ مؤنث لوړونکې۔ وګورئ لوړول۔

لوړونګ:(لوهٔ-ړمونګ)حاصل مصدر۔ وګورئ لوړول(۱)۔

لوړونګ:(لوهٔ-ړمونګ)حاصل مصدر۔ وګورئ لوړول(۲)۔

لوړونګ:(لو-ړمونګ)حاصل مصدر۔ وګورئ لوړول۔

لوړونه:(لوهٔ-ړموځنه)حاصل مصدر۔ وګورئ لوړول(۱)۔

لوړونه:(لوهٔ-ړموځنه)حاصل مصدر۔ وګورئ لوړول(۲)۔

لوړونه:(لو-ړموځنه)حاصل مصدر۔ وګورئ لوړول۔

لوړه:(لو-ړه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱)فولاد۔ پولاد۔ (۲)تبره چقه۔ کريکه۔ جمع لوړې۔

لوړه:(لو-ړه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ لوړ۔ جمع لوړې۔

لوړه:(لوهٔ-ړه)اسم صفت۔ (۱)دَ لوړ مؤنث۔ وګورئ لوړ۔ (۲)اسم۔ وچت ځاۍ۔ بېه۔ بلند ځاۍ۔ (۳)لوړوالے۔ بلندي۔ وچتوالے۔ جمع لوړې۔

لوړه:(لو-ړه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ دَ باراني سيلاب لاړه۔ خوړ۔

لوړه ژوره:(لوهٔ-ړمژمرهٔره)اسم مرکب۔ (۱)دَ لوړ ژور مؤنث۔ وګورئ لوړ ژور۔ (۲)دَ ژوند تلودهٔ ساړهٔ، خوارهٔ ترخهٔ۔

لوړيز:(لوهٔ-ړيز)اسم صفت۔ لوړ۔ وچت۔ دنګ جګ بلند۔

لوړېدل(۱):(لوهٔ-ړي-دل)مصدر لازم۔ (۱)وچتېدل۔ جګېدل۔ دنګېدل۔ قد زياتېدل۔ (۲)ترقي کول۔ محکبئي کېدل۔ (۳)عزت کېدل۔ درناوے کېدل۔ درنېدل۔

لوړېدل(۲):(لوهٔ-ړي-دل)مصدر لازم۔ لهٔ څهٔ څيزه توټې بېلېدل۔ نړېدل۔ نېدل۔ ورانېدل۔

لوړېدلے:(لوهٔ-ړي-دځلے)اسم مفعول۔ واحد۔ مذکر۔ جمع لوړېدلي۔ مؤنث لوړېدلې۔ وګورئ لوړېدل(۲)۔

لوړېدن:(لوهٔ-ړي-دن)حاصل مصدر۔ وګورئ لوړېدل(۱)۔

لوړېدن:(لوهٔ-ړي-دن)حاصل مصدر۔ وګورئ لوړېدل(۲)۔

لوړېدنګ:(لوهٔ-ړي-دنګ)حاصل مصدر۔ وګورئ لوړېدل(۱)۔

لوړېدنګ:(لوهٔ-ړي-دنګ)حاصل مصدر۔ وګورئ لوړېدل(۲)۔

لوړېدنه:(لوهٔ-ړي-دځنه)حاصل مصدر۔ وګورئ لوړېدل(۱)۔

لوړېدنه:(لوهٔ-ړي-دځنه)حاصل مصدر۔ وګورئ لوړېدل(۲)۔

لوړېدونکے:(لوهٔ-ړي-دون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع لوړېدونکي۔ مؤنث لوړېدونکې۔ وګورئ لوړېدل(۱)۔

لوړېدونکے:(لوهٔ-ړي-دون-کے)اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع لوړېدونکي۔ مؤنث لوړېدونکې۔ وګورئ لوړېدل(۲)۔

لوړېدهٔ:(لوهٔ-ړي-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه۔ وګورئ لوړېدل(۱)۔

لوړېدهٔ:(لوهٔ-ړي-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه۔

www pukhto net

وګورئ لوړېدل(۲)-

لوړی:(لو-ړی)اسم- واحد- مؤنث- دَ معمولي قسم اُسپنه- ادنیٰ قسم اُسپنه-

لوړی:(لو-ړی)اسم- واحد- مذکر- یو قسم نری نری وانښهٔ چې په غنمو کښې راخېژی-

لوز:(لوز)اسم- واحد- مذکر- دَ لفظ مغفن- ژبه- قول- وعده- لوظ-

لوز:(لوز)اسم- واحد/جمع- مذکر- (۱)بادام- نباتاتي نوم امیګډېلس کمیونس (AMYGDALUS COMMUNIS L) -(۲)لهٔ بادامو جوړه مټهائي-

لوز:(لوز)اسم- واحد- مذکر- دَ شاتو مچی- توره مچی- لوزه- غلارزه-

لوزپایه:(لوز-پا-یه)اسم- واحد- مؤنث- اندرپایه- پوړی-

لوزکه:(لو-زه-که)اسم- واحد- مؤنث- ګوراګے- ګوړی- نېنځکه-

لوزه:(لو-زه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لوز- جمع لوزې-

لوزینه:(لو-زی-نه)اسم- واحد- مؤنث- د بادامو حلوا-

لوږه:(لو-ږه)اسم- واحد- مؤنث- دَ خوراک خواهش- ولږه- اشتها- نهره-

لوږه تنده:(لو-ږه-تن-ده)اسم مرکب- (۱)دَ خوراک څښاک خواهش- نهره او تنده- خوراک او اُبو څښلو ته زړهٔ کېدنه- (۲)سختي- تنګسیا- نیستي-

لوس:(لوس)اسم- واحد- مذکر- (۱)خوشامنده- خوشامده- چاپلوسي- (۲)صفت- حقیر- کمینه- سپک-

لوست:(لوست/لوست)اسم- واحد- مذکر- یو لیکلے یا چاپ شوے شے ولاړونه، پاڅونه- مطالعه- لست-

لوست:(لوست)اسم- واحد- مذکر- قے- کرخون- اُلټی- کانګه-

لوستل:(لوس-تل)مصدر متعدی- قے کول- اُلټي کول- کرخول- کرخون کول- کانګې کول- لستل- مطالعه کول-

لوستل:(لوس-تل)مصدر متعدی- شیندل- خورول- دانه دانه کول- نوستل- نُستل-

لوستلے:(لوس-تہ-لے)صفت/مفعول- جمع لوستلي- مؤنث لوستلې- وګورئ لوستل-

لوستن:(لوس-تن)حاصلِ مصدر- وګورئ لوستل-

لوستن:(لوس-تن)حاصلِ مصدر- وګورئ لوستل-

لوستنګ:(لوس-تنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ لوستل-

لوستنګ:(لوس-تنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ لوستل-

لوستنه:(لوس-تہ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ لوستل-

لوستنه:(لوس-تہ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ لوستل-

لوستونکے:(لوس-تون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع لوستونکي- مؤنث لوستونکې- وګورئ لوستل-

لوستونکے:(لوس-تون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع لوستونکي- مؤنث لوستونکې- وګورئ لوستل-

لوستي:(لوس-تي)اسم- واحد- مؤنث- د یوې لویې نامه-

لوستي:(لوس-تي)اسم- واحد- مؤنث- لیه-

لوسره:(لو-س-ره)اسم- واحد- مؤنث- د کوژدنې یو رسم چې پکښې نارینهٔ له نکریزې پوري کولے شي- لوسیره- لاس سوره-

لوسي:(لو-سي)صفت/متعلق فعل- وګورئ لاسي-

لوسیره:(لو-سي-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لوسره-

لوش:(لوش)اسم صفت- (۱)کږه خلهٔ لرونکے- کوږخلے- (۲)دَ تالاؤ یا حوض په تل کښې سخا خټه- (فارسي)-

لوشاک:(لو-شاک)اسم- واحد- مذکر- خړې اُبهٔ- کړوب- هغه اُبهٔ چې خاوره پکښې ګډه شوې وی-

لوشل:(لو-شل)مصدر متعدی- دَ ماده څاروی لهٔ تیو نه پئ راویستل- لوغل- لوښل- لوبغل- لشل-

لوشلے:(لو-شہ-لے)اسم صفت/مفعول- جمع لوشلي- مؤنث لوشلې- وګورئ لوشل-

لوشن:(لو-شن)حاصلِ مصدر- وګورئ لوشل-

لوشونکے:(لو-شون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع لوشونکي- مؤنث لوشونکې- وګورئ لوشل-

لوشنګ:(لو-شنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ لوشل-

لوشنه:(لو-شہ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ لوشل-

لوشونے:(لو-شو-نے)اسم فاعل- لوشونکے- جمع لوشوني- وګورئ لوشل-

لوشه:(لو-شه)اسم- واحد- مذکر مؤنث- (۱)ناجائز بچے- حرامي بچے- (۲)صفت- غټې شونډې لرونکے بنیادم- پېړشونډے-

لوښتل:(لوښ-تل)مصدر متعدی- لهٔ بېخه ویستل- نړول-

لوښتلے:(لوښ-تہ-لے)صفت/مفعول- واحد- مذکر- وګورئ لوښتل-

لوښتن:(لوښ-تن)حاصلِ مصدر- وګورئ لوښتل-

لوښتنګ:(لوښ-تنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ لوښتل-

لوښتنه:(لوښ-تہ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ لوښتل-

لوښتونکے:(لوښ-تون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع لوښتونکي- مؤنث لوښتونکې- وګورئ لوښتل-

لوښتهٔ:(لوښ-تهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ لوښتل-

لوښتے:(لوښ-تے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لښتے-

لوښی لرګی:(لو-ښی-لر-ګی)اسم مرکب- سامان- کهه- اسباب-

لوښے:(لو-ښے)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه څیز چې بل څیز پکښې اچولے یا سمبالولے شي- ظرف- (۲)اصل- فطرت-

لوطي:(لو-طي)اسم صفت- (۱)دَ حضرت لوط علیه السلام سره تعلق لرونکے- (۲)دَ ملګانو سره بدفعلي کوونکے- بچه باز- ړاګے- هلک لوبے- (۳)بوتمار- ټوقی- نقلی- مسخرې کوونکے-

لوظ:(لوظ)اسم- واحد- مذکر- لفظ- قول- اقرار- ژبه- قول- جمع لفظونه-

لوظ قول:(لوظ-قول)اسم مرکب- لفظ او اقرار- ژبه، وعده- قول او اقرار-

لوظنامه:(لوظ-نا-مه)اسم- واحد- مؤنث- هغه لیک چې پکښې دَ څهٔ خبرې یا

ی٘ (خې-رل)، ې٘(مې-ره-ول)، ی٘(پیا-لی)، ے٘(تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

کار اقرار یا ژبه وکړې شي- اقرارنامه- دستاویز- عهدنامه-

لوغ:(لوغ)اسم- واحد- مذکر- ناراضتیا- ناراضي- خفګان- زړه بداوی- (م- عربي)-

لوغ:(لوغ)اسم- لوشنه- د ماده څاروی له تیو پئ راوبستنه-

لوغړن:(لو-غه-ړن)صفت- په لوګیو تور شوی- نیم سوړېدلی- (۲)بدنصیبه- کم بخت- سیاه بخت-

لوغړول:(لوغ-ړه-ول)مصدر متعدی- وګوری لغړول- سره د لوازماتو-

لوغړېدل:(لوغ-ړې-دل)مصدر لازم- وګوری لغړېدل سره د لوازماتو-

لوغزه:(لو-غه-زه)اسم- مونث- لنګه غوا یا چېلی- پئ کونکې غوا یا چېلی- جمع لوغزې-

لوغس:(لو-غس)صفت- وږستړکی- بخن- اروواوړی- ارواخواری- حریص- لوغسی-

لوغسی:(لو-غه-سي)صفت- هغه لنګ ماده څاروی چي پيو لوشلو ته ګوډ خان نه په اسانه نه پرېږدي- کباره-

لوغسې:(لو-غه-سې)صفت- وګوری لوغس-

لوغل:(لوه-غل)مصدر- لوشل- لوېدل- لوشل-

لوغلې:(لوه-غه-لې)صفت- وګوری لوغل-

لوغن:(لوه-غن)حاصل مصدر- وګوری لوغل-

لوغنګ:(لوه-غنګ)حاصل مصدر- وګوری لوغل-

لوغنه:(لوه-غه-نه)حاصل مصدر- وګوری لوغل-

لوغول:(لو-غه-ول)مصدر متعدی- په تودو ایرو کښې نوغلول- ربړول- په ګرمو ایرو کښې لړل- معمولي سوختول- (۲)انګار تازه کول- په مزه مزه بلول- (۳)کډه خبره یا معامله جاری ساتل- (۴)ترټول- کړول-

لوغولې:(لو-غه-وه-لې)صفت مفعول- وګوری لوغول-

لوغون:(لو-غه-ون)حاصل مصدر- وګوری لوغول-

لوغونکې:(لو-غه-وون-کې)اسم فاعل- جمع لوغونکي- مؤنث لوغونکې- وګوری لوغول-

لوغونګ:(لو-غه-ونګ)حاصل مصدر- وګوری لوغول-

لوغونه:(لو-غه-وه-نه)حاصل مصدر- وګوری لوغول-

لوغونه:(لوه-غو-نه)اسم- واحد- مؤنث- هغه کټوی- باټې یا لوښے چي له څاروی پکښې پئ رالوشلی شي-

لوغي:(لو-غي)اسم- واحد جمع- مؤنث- کټوی- کټی- دوني-

لوغېدل:(لو-غي-دل)مصدر لازم- په تودو ایرو کښې نوغلېدل- په ګرمو ایرو کښې لړلې کېدل- معمولي سوختېدل- پخېدل- (۲)تازه کېدل- بلېدل- (۳)کډه خبره یا معامله جاری ساتلې کېدل- (۴)ترټېدل- کړېدل-

لوغېدلې:(لو-غي-ده-لې)صفت مفعول- جمع لوغېدلي- مؤنث لوغېدلې- وګوری لوغېدل-

لوغېدن:(لو-غي-دن)حاصل مصدر- وګوری لوغېدل-

لوغېدنګ:(لو-غي-دنګ)حاصل مصدر- وګوری لوغېدل-

لوغېدنه:(لو-غي-ده-نه)حاصل مصدر- وګوری لوغېدل-

لوغېدونکې:(لو-غي-دون-کې)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع لوغېدونکي- مؤنث لوغېدونکې- وګوری لوغېدل-

لوک:(لوک)اسم- واحد- مذکر- (۱)انسان- بشر- (۲)عالم ارواح- د روحونو جهان- (۳)دنیا- جهان- (۴)الاندیني طبقه-

لوکات:(لو-کات)اسم- واحد جمع- مذکر- یو قسم زیړ رنګ لورنګې مېوه- بناتنی نوم ایریوبوټریا جاپانیکا (ERIOBOTRYA JAPANICA)-

لوکوټي:(لو-کو-ټي)صفت متعلق فعل- وګوری لوکې- لوشان- لکوټی-

لوک(۱):(لوک)صفت- بې فائدې- بې کار- فضول- مؤنث لوکه-

لوک(۲):(لوک)اسم- واحد- مذکر- صحرا- بیابان- شاړه- لوګه-

لوکړ:(لو-کړ)صفت- فصل ربونکی- لو کونکی- لوکړی-

لوکړی:(لو-کړی)صفت- وګوری لوکړ-

لوکړې:(لو-کړې)اسم- واحد- مذکر- د ساز یو قسم- جمع لوکړي-

لوکړن:(لوک-ړن)صفت- لوکې وهلی- په لوګې تور شوی- لوګن-

لوکن:(لو-کن)اسم صفت- وګوری لوکړن-

لوکول:(لو-که-ول)مصدر متعدی- لوګې کول- لوګې ربستل- (۲)بلول- لګول- (۳)تربانول- خاروول- (۴)تباه کول- بربادول- ضائع کول- (۵)افواه خورول- پروپېګنده کول-

لوکون:(لو-که-ون)حاصل مصدر- وګوری لوکول-

لوکونکې:(لو-که-وون-کې)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع لوکونکي- مؤنث لوکونکې- وګوری لوکول-

لوکونګ:(لو-که-ونګ)حاصل مصدر- وګوری لوکول-

لوکونه:(لو-که-وه-نه)حاصل مصدر- وګوری لوکول-

لوکه:(لو-که)اسم- واحد- مؤنث- وګوری لوک نمبر ۲-

لوکې خانه:(لو-کې-خا-نه)اسم مرکب- مؤنث- د لوګې د وتو لار- موری- روزن- لوی- جمع لوکې خانې-

لوکېدل:(لو-کې-دل)مصدر لازم- (۱)لوګې کېدل- لوګې کول- لوګې وتل- (۲)بلېدل- لګېدل- (۳)تربانېدل- خارېدل- (۴)تباه کېدل- ضائع کېدل- بربادېدل- (۵)خورېدل- پروپېګنده کېدل-

لوکېدلې:(لو-کې-ده-لې)صفت مفعول- جمع لوکېدلي- مؤنث لوکېدلې- وګوری لوکېدل-

لوکېدن:(لو-کې-دن)حاصل مصدر- وګوری لوکېدل-

لوکېدنګ:(لو-کې-دنګ)حاصل مصدر- وګوری لوکېدل-

لوکېدنه:(لو-کې-ده-نه)حاصل مصدر- وګوری لوکېدل-

لوکېدونکې:(لو-کې-دون-کې)اسم فاعل- جمع لوکېدونکي- مؤنث لوکېدونکې- وګوری لوکېدل-

لوکېدهٔ:(لو-کې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه-

www.pukhto.net

وګورئ لوکېدل۔

لوکے :(لو-کے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د سوزېدو له عمل نه پېدا کېدونکی هغه کثیف بخارات چې په بره خېژي۔ لوخړه۔ دون۔ دُود۔

لولپان :(لو-له-پان)صفت۔ وګورئ لولپه۔

لولپاند :(لو-له-پاند)صفت۔ مؤنث لولپانده۔ وګورئ لولپه۔

لولپه :(لو-له-په)صفت۔ (۱)ډېر زیات سوربخلے۔ ستی پتی۔ (۲)د لېونتوب تر حده د څه څیز مشتاق۔ په څه څیز پسې لېونے۔ لولپان۔ لولپاند۔ لپلپاند۔

لولکی :(لو-له-کي)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ قران پاټه۔

لولنګر :(لاو-لنګ-ګر)صفت۔ فضول خرڅ۔ عیاش۔ لوفر۔

لو لور :(لو-لور)اسم مرکب۔ مذکر۔ (۱)فصل رېبنه۔ لو کونه۔ (۲)کار۔ مشقت۔ محنت۔ خواری۔ (۳)صفت۔ تباه۔ تالا۔ برباد۔ لو و لور۔

لولول :(لو-له-ول)مصدر متعدی۔ درس ورکول۔ په بل لُست کول۔ لُستل۔ لُست ور زده کول۔

لولولے :(لو-له-و-لے)صفت مفعول۔ جمع لولولی۔ مؤنث لولولې۔ وګورئ لولول۔

لولون :(لو-له-ون)حاصل مصدر۔ وګورئ لولول۔

لولونکے :(لو-له-ون-کے)فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ لولول۔

لولونګ :(لو-له-ونګ)حاصل مصدر۔ وګورئ لولول۔

لولونه :(لو-له-و-نه)حاصل مصدر۔ وګورئ لولول۔

لولی :(لو-لي)صفت۔ واحد جمع۔ مونث۔ بېه۔ فاحشه۔ بدکاره ښځه۔ للی۔

لولی توب :(لو-لي-توب)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ بېتوب۔ فحاشي۔ بدکاري۔

لومبړ :(لوم-بړ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ لمبړ۔ (۱)د ګیدړ په شکل د یوه مکار ځنګلی ځناور نامه۔ (۲)صفت۔ لوړ کم عقل سړے۔ مؤنث لومبړه۔ جمع لومبړان۔

لومشر :(لو-م-شر)صفت۔ لوی مشر۔ لوی افسر۔ (افغانستان)۔

لومکه :(لو-م-که)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ د اس له ویښتو جوړ کړے شوے دام چې ورې مرغی پرې نیولے شی۔ لومه۔ لوبنه۔ غڅهارے۔

لومنی :(لو-م-ني)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ کبر۔ لوئی۔ غرور۔ خودبیني۔ لوی مني۔

لومه :(لو-مه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ لومکه۔

لوند :(لوند)صفت۔ مذکر۔ تر۔ خوشت۔ نمژن۔ نمناک۔ مؤنث لونده، لمده۔ جمع لواندهٔ، لامدهٔ۔

لوند خښت :(لوند-خښت)صفت۔ وګورئ لوند خوشت۔

لوند خوشت :(لوند-خوشت)صفت۔ بېخی لوند۔ ډېر نم لرونکے۔ ټول لوند۔ لوند خېشت۔ جمع لواندهٔ خوشتهٔ، لامدهٔ خوشتهٔ۔ مؤنث لونده خوشته، لمده خوشته۔ لونده خښته۔

لوند خښت :(لوند-خېشت)صفت۔ وګورئ لوند خوشت۔

لوندوالے :(لوند-وا-لے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ تروالے۔ خښتوالے۔ رطوبت۔ خشتوالے۔

لوندول :(لون-د-ول)مصدر متعدی۔ لمدول۔ ترکول۔ خوشتول۔ خښتول۔

لوندون :(لون-د-ون)حاصل مصدر۔ وګورئ لوندول۔

لوندونکے :(لون-د-ون-کے)فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ لوندول۔

لوندونګ :(لون-د-ونګ)حاصل مصدر۔ وګورئ لوندول۔

لوندونه :(لون-د-و-نه)حاصل مصدر۔ وګورئ لوندول۔

لوندېدل :(لون-دې-دل)مصدر لازم۔ لمدېدل۔ ترکېدل۔ خښتېدل۔ خوشتېدل۔

لوندېدن :(لون-دې-دن)حاصل مصدر۔ وګورئ لوندېدل۔

لوندېدنګ :(لون-دې-دنګ)حاصل مصدر۔ وګورئ لوندېدل۔

لوندېدنه :(لون-دې-د-نه)حاصل مصدر۔ وګورئ لوندېدل۔

لوندېدونکے :(لون-دې-دون-کے)فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع لوندېدونکي۔ مؤنث لوندېدونکې۔ وګورئ لوندېدل۔

لوندېدهٔ :(لون-دې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراری واحد غائب صیغه۔ وګورئ لوندېدل۔

لونړ :(لو-نړ)صفت۔ (۱)ناواده کړے۔ هغه ځلمے چې لا واده یې نهٔ وی کړے۔ (۲)خوشې ګرځېدونکے۔ عضول او بېکاره سړے۔ مؤنث لونړه۔ جمع لونړان۔

لونړتوب :(لو-نړ-توب)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د لونړ جوړېدو حالت۔ لونړتیا۔ لونډی۔

لونړتیا :(لو-نړ-تیا)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ لونړتوب۔

لونړبر :(لو-نړ-بر)صفت۔ (۱)اواره ګرد۔ بې فائدې ګرځېدونکے سړے۔ (۲)یو قسم خوشبودار تېل۔

لونړه :(لو-نړ-ه)صفت۔ د لونړ مؤنث۔ اواره ګرده۔ ګشتي ښځه۔

لونډی :(لو-ن-ډي)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ لونړتوب۔

لونګ :(لو-ونګ)اسم۔ واحد جمع۔ مذکر۔ یو قسم خوشبودار بوټے او د هغهٔ دانې چې اکثر تری امېلو نه جوړولے شي۔ نباتاتی نوم یوجینیا کاریوفلاټا (EUGENIA CARYOPHILLATA)۔

لونګین :(لو-ونګ-ګین)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)د لونګو امېل۔ (۲)یو قسم پسول چې په غاړه اچولے شي۔

لونګی :(لو-ونګ-ګي)اسم۔ واحد جمع۔ مؤنث۔ وګورئ لنګی۔

لونل :(لو-نل)مصدر متعدی۔ لوېل۔ لوستل۔ شېندل۔ نستل۔

لون لون :(لون-لون)صفت مرکب۔ رنګ رنګ۔ قسم قسم۔ قسما قسم۔

لونه :(لو-نه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ خرے۔ تیپے۔ سېزه۔ تنکی۔ بلونه۔ د یوې سکې نوم۔

لونېدل :(لو-نې-دل)مصدر لازم۔ ستلے کېدل۔ لوستلے کېدل۔ شېندلے کېدل۔

لونی :(لو-ني)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ شهادت۔ ګواهي۔

لونے :(لو-نے)صفت۔ ورکونکے۔ مخنونکے۔

لون :(لون)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ مالګه۔ سوډیم کلورائېډ۔ NaCl۔

www.pukhto.net

لووار:(لُو-وار)اسم- واحد- مذكر- وګورئ لوهار-

لووړے:(لُو-وُه-ړے)صفت- (۱)هغه څيز چي قسم پرې وخوړلے شي- (۲)څوک روحاني سړے- بزرګ- پير-

لوول:(لُو-وَل)مصدر متروک- وګورئ لل-

لو و لور:(لو-وُ-لور)اسم مركب/صفت- وګورئ لولور-

لوونه:(لو-وُه-نه)حاصل مصدر- لهٔ لوول مصدر نه حاصل مصدر- وګورئ لل-

لووے:(لو-وے)صفت- لهٔ لوول نه صفت- وګورئ لل-

لوه:(لوه)اسم- واحد- مؤنث- تهوس- غليواز- مرګباز- (فارسي)-

لوه:(لوه)اسم- واحد- مؤنث- عشقنه- اشتها- خواهش- لوړه- لومه-

لوهار:(لُو-هار)اسم- واحد- مذكر- د اُسپني څيزونه جوړونكے- اينګر- لووار-

لوهټ:(لُو-هټ)اسم- واحد- مذكر- دٔ وازريني علاقې دٔ يوهٔ ښائسته مارغهٔ نامه چي مرغ زرين هم ورته ونيلے شي- دا مارغهٔ دٔ چيچې نومې مارغهٔ سره يوځاے وسي- لوېټ- دٔ ساتنسي نوم دٔ پاره وګورئ لېټ-

لومړ:(لُو-مړ)اسم- واحد- مذكر- د يوې بې مېوې ونې نامه چي د نارنجي رنګ ګلونه نيسي-

لومړه:(لو-مهٔ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لوخړه-

لومه:(لو-مه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لوه ۲-

لوني:(لو-ني)اسم- واحد- مؤنث- لوينه- (۱)غټوالے- لوئ والے- (۲)بزرګي- عظمت- (۳)كبر- غرور-

لوني مار:(لو-ني-مار)صفت- لاڼو- لاپې- بوزمار- لاپې وهونكے- لوني كونكے- جمع لوني ماران-

لوئ:(لوئ)صفت- (۱)غټ- (۲)وړد- (۳)پېړ- (۴)مشر- (۵)رت- (۶)لوړ- دنګ- وچت- (۷)عظيم- عزتمند- بزرګ- مؤنث لويه-

لوئ اختر:(لوئ-اخ-تر)اسم- واحد- مذكر- دٔ قرباني اختر- هغه اختر چي پكښې قرباني او حج كولے شي- غټ اختر- عيدالاضحیٰ-

لوئېدل:(لو-ئ-دل)مصدر لازم- (۱)غټېدل- (۲)وړېدل- (۳)پېړېدل- (۴)لوړېدل- وچتېدل- جګېدل- (۵)رتېدل- خورېدل- (۶)زياتېدل- سپوا كېدل- (۷)عظمت موندل- عزتمند كېدل- بزرګېدل-

لوئېدن:(لو-ئ-دن)حاصل مصدر- وګورئ لوئېدل-

لوئېدنګ:(لو-ئ-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ لوئېدل-

لوئېدنه:(لو-ئ-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ لوئېدل-

لوئېدونكے:(لو-ئ-دون-كے)فاعل- جمع لوئېدونكي- مؤنث لوئېدونكې- وګورئ لوئېدل-

لوئېدهٔ:(لو-ئ-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ لوئېدل-

لوئ رنځ:(لوئ-رنځ)اسم مركب- مذكر- يو خطرناک مرض- نرے رنځ- ټي بي-

لويښت:(لو-يښت)اسم- واحد- مذكر- وګورئ لوني-

لوينه:(لوی-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لومكه-

لوينه:(لو-يهٔ-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لوني-

لويول:(لو-يه-ول)مصدر متعدي- (۱)غټول- پېړول- (۲)وړدول- (۳)لوړول- جګول- وچتول- (۴)رتول- فراخول- (۵)زياتول- سپوا كول- درنول- (۶)عزت وركول- بزرګي وركول- (۷)پالل- پرورش كول-

لويون:(لو-يه-ون)حاصل مصدر- وګورئ لويول-

لويونكے:(لو-يه-وون-كے)اسم فاعل- جمع لويونكي- مؤنث لويونكې- وګورئ لويول-

لويونګ:(لو-يه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ لويول-

لويونه:(لو-يه-وهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ لويول-

لويه:(لو-يه)اسم صفت- مؤنث- دٔ لوئ مؤنث- وګورئ لوئ-

لوېټ:(لو-وېټ)اسم- واحد- مذكر- وګورئ لوهټ-

لوېدل:(لوي-دل)مصدر لازم- (۱)غرځېدل- پرېوتل- (۲)كمېدل- لږېدل-

لوېدلے:(لوي-دهٔ-لے)صفت- واحد- مذكر- جمع لوېدلي- مؤنث لوېدلې- وګورئ لوېدل-

لوېدن:(لوي-دن)حاصل مصدر- وګورئ لوېدل-

لوېدنګ:(لوي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ لوېدل-

لوېدنه:(لوي-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ لوېدل-

لوېدون:(لوي-دون)اسم- واحد- مذكر- هغه ځاے چرته چي سيند سمندر ته پرېوځي-

لوېدونكے:(لوي-دون-كے)اسم فاعل- جمع لوېدونكي- مؤنث لوېدونكې- وګورئ لوېدل-

لوېدهٔ:(لوي-دهٔ)حاصل مصدر او دٔ ماضي استمراري دٔ واحد غائب صيغه- وګورئ لوېدل-

لوېدیځ:(لوي-دیځ)اسم- واحد- مذكر- نمرپرېوانه- قبله- مغرب-

لوېند:(لوي-ړند)اسم- واحد- مذكر- وګورئ لوېړنده-

لوېند:(لوي-ړند)صفت- تيارخور- مفت خور- پهٔ بل پائېدونكے- ټوړی-

لوېړنده:(لوي-ړن-ده)اسم- واحد- مذكر/مؤنث- لوېړند- وګورئ ولېړنده-

لوېشت:(لوېشت)اسم- واحد- مذكر- دٔ لاس پهٔ بېخې خوارهٔ حالت كښې دٔ مټې ګټې لهٔ سره دٔ قهې ګټې تر سره فاصله- لېشت- جمع لوېشتې-

لوېشتول:(لوېش-تهٔ-وَل)مصدر متعدي- پهٔ لوېشتو كول- دٔ لوېشتو پهٔ ذريعه ناپ كول- لېشتول-

لوېشتون:(لوېش-تهٔ-ون)حاصل مصدر- وګورئ لوېشتول-

لوېشتونكے:(لوېش-تهٔ-وون-كے)اسم فاعل- واحد- مذكر- وګورئ لوېشتول-

لوېشتونګ:(لوېش-تهٔ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ لوېشتول-

لوېشتونه:(لوېش-تهٔ-وهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ لوېشتول-

لوېشتينګ:(لوېش-تي-نګ)صفت- (۱)يوه لوېشت ناپ لرونكے- (۲)مندرے- لېشتګ- لېشتكے- لنډے بنيادم- كم قد لرونكے بنيادم- مؤنث لوېشتينګه-

لوېشتېدل:(لوېش-تې-دَل)مصدر لازم- پهٔ لوېشتو كېدل-

www.pukhto.net

دُ لوپشت پهٔ ذریعه ناپ کېدل- لپشتېدل-

لوپشتېدن:(لوپش-تې-دن)حاصل مصدر- وګورئ لوپشتېدل-

لوپشتېدنګ:(لوپش-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ لوپشتېدل-

لوپشتېدنه:(لوپش-تې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ لوپشتېدل-

لوپشتېدونکے:(لوپش-تې-دون-کے)اسم فاعل- جمع لوپشتېدونکي- مؤنث لوپشتېدونکې- وګورئ لوپشتېدل-

لوپشتېدهٔ:(لوپش-تې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ لوپشتېدل-

لوېشل:(لوې-شل)مصدر متعدي- وګورئ لوشل سره دُ لوازماتو-

وے(۱):(لهٔ-رے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لوګی خانه-

لوے(۲):(لهٔ-وے)اسم- واحد- مذکر- د لوګی تورکے-

لوے(۳):(لهٔ-وے)اسم- واحد- مذکر- دُ تورې لاستے، موټے-

له:(له)حرف جار- لره- پاره- ته-

لهٔ:(لهٔ)حرف جار- دا حرف همېشه د "ته" معنٰی ورکوی لکه لهٔ بازاره د بازار ته-

لهب:(له-هَب)اسم- واحد- مذکر- (۱)تړے کېدنه- تنده لګېدنه- (۲)د اور لمبه، شغله- (۳)ګرد- دوړه-

لهجه:(له-جه)اسم- واحد- مؤنث- د الفاظو اواز- تلفظ- د وينا طرز- د خبرو انداز-

لهٰذا:(لِ-ها-ذا)متعلق فعل- دي دَ پاره- ځکه- پس- نو-

لهر:(ل-هر)اسم- واحد- مذکر- (۱)دُ اُبو خوځېدنه- چپه- (۲)شوق- ولوله- (۳)وهم- خيال- (۴)وجد- (۵)جنون- لېونتوب- (۶)دوره- دُ بيمارۍ جوش- (۷)سوزے- تاؤ- (۸)خواهش- دُ جماع جوش- کورولی ته زړهٔ کېدنه-

لهر:(له-هر)اسم- واحد- مذکر- د دوو غرونو تر مېنځه ژوره کنده- ګرنګ-

لهرے:(له-هَ-رے)اسم- واحد- مذکر- د کوټې لرګے- هغه لرګے چې د کوټې پټولو د پاره د کوټې پهٔ چت اچولے شي- برګه- کړي-

لهلهاند:(له-له-هاند)صفت- وګورئ لالهند-

لهلهاند:(له-له-هاند)صفت- وګورئ لولپه-

لهو:(لَهوَ)اسم- واحد- مذکر- لوبه- بازي-

لهه:(له-هه)اسم- واحد- مؤنث- هغه صفا نرمه خټه چې د سېلاب بهېدو نه پس پهٔ سېلاب بهېدلی ځاې پاتې شي- لپهه-

لهه ژن:(له-هه-ژن)صفت- هغه ځاې چې لهه پرې پرته وي- لهه لرونکے- لهژن-

لهېدل:(له-هې-دل)مصدر لازم- زړهٔ کچه کچه کېدل- زړهٔ چينجېدل-

لهېدن:(له-هې-دن)حاصل مصدر- وګورئ لهېدل-

لهېدنګ:(له-هې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ لهېدل-

لهېدنه:(له-هې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ لهېدل-

لهېدونکے:(له-هې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ لهېدل-

لهېدهٔ:(له-هې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ لهېدل-

لئيم:(لَ-ئيم)صفت- شوم- کنجوس- بخيل-

لي:(لي)د لل مصدر مشتقه صيغه (فعل حال)- وګورئ لل-

ليا:(ليا)حرف عطف- وګورئ لا-

ليار:(ليار)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لاړ-

لياروېے:(ليار-وې-ے)صفت- لاړ وهونکے- پاکو- شوکمار-

لياړژن:(ليا-ړژن)صفت- وګورئ لاړژن-

لياړه:(ليا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لاړه- جمع لياړې-

لياشه:(ليا-شه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لاشهٔ-

لياشهٔ:(ليا-شهٔ)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لاشهٔ-

لياقت:(ليا-قت)اسم- واحد- مذکر- (۱)قابليت- تکړه والے- استعداد- (۲)خوبي- جوهر- ښهٔ والے- (۳)هوښيارتوب- دانائي- پوهه-

ليت:(ليت)اسم- واحد- مذکر- هغه غټ لرګے چې دُ زنا پهٔ غرض بلولے شي- ليتکے- شوتی-

ليتکے:(ليت-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ليت-

ليت و لعل:(ليت-و-لعل)اسم مرکب- ټال مټول- اخوا دېخوا- اتې باتې-

ليچ:(ليچ)اسم- واحد- مذکر- د سترګو يو مرض چې لهٔ سترګو پکښې ګلېښناکې ابهٔ بهېږي چې لهٔ هغو اُبو نه څخې جوړې شي- ليځ-

ليچ:(ليچ)اسم- واحد- مذکر- هغه ابهٔ چې د ماشوم لهٔ خلې څاڅي-

ليچار:(لي-چار)اسم- واحد- مذکر- فضول او بې فائدې خبرې- بکواس-

ليچن:(لي-چن)صفت- هغه څوک چې سترګې يې ليچ کوي- د ليچ مريض- مؤنث ليچنه-

ليچنه:(لي-چنه)صفت- (۱)دُ ليچن مؤنث- وګورئ ليچن- (۲)هغه سترګه چې ليچ کوي- ابهٔ کونکې سترګه- جمع ليچنې-

ليچنې:(لي-چنې)اسم صفت- جمع- مؤنث- دُ ليچنه جمع- وګورئ ليچنه-

ليچه:(لي-چه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د سترګو يو قسم مرض- ليچ- (۲)يو قسم لوبه-

ليخړه:(لي-خړه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لوخړه-

ليدل:(لي-دل)مصدر لازم- (۱)کتل- ملاحظه کول- (۲)ملاقات کول- (۳)غور کول- خيال کول- (۴)زغمل- تېرول- برداشت کول-

ليدل کتل:(لي-دل-کت-تل)مصدر لازم- (۱)کتل- ليدل- (۲)ملاقات کول- (۳)واقفيت جوړول- اشنائي کول-

ليدلے:(لي-دلے)صفت- جمع ليدلي- مؤنث ليدلې- وګورئ ليدل-

ليدلے کتلے:(لي-دلے-کت-تلے)صفت- جمع ليدلي کتلي- مؤنث ليدلې کتلې- اشنا- بلد- معلوم- واقف-

ليدن:(لي-دن)حاصل مصدر- وګورئ ليدل-

www pukhto net

لیدن کتن:(لی-دن-که-تن)حاصل مصدر- وګورئ لیدل کتل-

لیدنګ:(لی-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ لیدل-

لیدنه کتنه:(لی-دَ-نه-کَه-تَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ لیدل کتل-

لیدون:(لی-دون)اسم- واحد- مذکر- لیدنه- ملاقات- لیدهٔ کاتهٔ-

لیدونکے:(لی-دون-کے)فاعل- واحد- مذکر- جمع لیدونکی- مؤنث لیدونکې- وګورئ لیدل-

لیدونکے کتونکے:(لی-دون-کے-کَه-تون-کے)فاعل- جمع لیدونکی کتونکی- مؤنث لیدونکې کتونکې- وګورئ لیدل کتل-

لیدهٔ:(لی-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ لیدل-

لیدهٔ کاتهٔ:(لی-دهٔ-کا-تهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ لیدل کتل-

لیږر:(لی-ږر)صفت- مشر- رهنما- قائد- مؤنث لیږره-

لیږر شپ:(لی-ږر-شپ)اسم- واحد- مذکر- مشري- رهنماني- قیادت- (انګریزي)-

لیرانګه:(لی-رانګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- چیره- چیرانګه- ریښه- لیره- ریښانګه- رګه- جمع لیرانګې-

لیره:(لی-ره)اسم- واحد- مؤنث- جمع لیرې- وګورئ لیرانګه-

لیرې:(لی-رې)اسم- واحد جمع- مؤنث- نرې لاره-

لیږکے:(لیږ-کے)اسم- واحد- مذکر- اسټر- پوښ- نرے پوټکے- پوستکے- پوټ-

لیږمې:(لیږ-مې)اسم- جمع- مؤنث- خوشامندې- چاپلوسي-

لیږمې:(لیږ-مې)اسم- جمع- مؤنث- ځلې ځلې- منوې ترږې- الی بلې-

لیږمے:(لیږ-مے)صفت- مذکر- خوشامدګر- چاپلوس-

لیک:(لیک)اسم- واحد- مذکر- (۱)تحریر- خط- (۲)دَ لیکلو انداز- طریقه-

لیکانے:(لی-کا-نے)اسم- واحد- مذکر- لیکنے- دَ لیک کولو اوزار- قلم- جمع لیکاني-

لیک دود:(لیک-دود)اسم مرکب- مذکر- د لیک انداز- طریقه- رسم الخط-

لیکل:(لی-کل)مصدر متعدي- تحریرول- نوشته کول-

لیک لست:(لیک-لست)اسم مرکب- مذکر- (۱)لیکنه لستنه- د لیکلو او لستلو کار- (۲)تعلیم- لیک لوست-

لیک لوست:(لیک-لوست)اسم مرکب- مذکر- وګورئ لیک لست-

لیکلے:(لی-کلے)صفت- جمع لیکلی- مؤنث لیکلې- وګورئ لیکل-

لیکمن:(لیک-من)صفت- حصه لرونکے- برخه لرونکے- حصه دار- مؤنث لیکمنه-

لیکنه:(لی-کَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ لیکل-

لیکنے:(لی-کَ-نے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لیکانے-

لیکوال:(لیک-وال)صفت- لیکونکے- اهلِ قلم- لیک کونکے- محرر-

لیکوالي:(لیک-وا-لي)اسم- واحد- مؤنث- د لیک کار- لیکنه- محرري-

لیکونکے:(لی-کون-کے)صفت فاعل- جمع لیکونکی- مؤنث لیکونکې- وګورئ لیکل-

لیکونے:(لی-کو-نے)صفت- د لیکل صفت- وګورئ لیکل-

لیکه:(لی-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کرښه- (۲)نښه- نشان- (۳)سړک- لار- روټ- (۴)هغه پټې کښې د تخم اچولو په غرض وېستلے شوے کیل- (۵)رسم- رواج-

لیکه:(لی-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)برخه- حصه- (۲)پوشان والے- موزونیت-

لیګ:(لیګ)اسم- واحد- مذکر- ټولے- جماعت- پله- مجلس- (م- انګریزي)-

لیلے:(لی-لے)صفت- نرے ماندہ غلے- کمزورے غلے-

لیلیږدل:(لی-لې-دل)مصدر لازم- (۱)نرے نروچکے کېدل- کمزورے کېدل- (۲)ړو مدل- ېتوېدل- رغښتل-

لیلیږدن:(لی-لې-دن)حاصل مصدر- وګورئ لیلیږدل-

لیلیږدنګ:(لی-لې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ لیلیږدل-

لیلیږدنه:(لی-لې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ لیلیږدل-

لیلیږدونکے:(لی-لې-دون-کے)فاعل- جمع لیلیږدونکی- مؤنث لیلیږدونکې- وګورئ لیلیږدل-

لیلیږدهٔ:(لی-لې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ لیلیږدل-

لیمڅے:(لیم-څے)صفت- نغړې- نساک- نیمڅے-

لیمې:(لی-مې)صفت- لوند- تر-

لینخکه:(لین-خَه-که)اسم- واحد- مؤنث- ګوړې- نینخکه- ناخکه-

لینده:(لین-ده)اسم- واحد- مؤنث- لهٔ لرګی او رېږ نه جوړه یوه اله چې دَ غشي یا کاڼي په ذریعه پرې ویشتل کولے شي- کمان-

لینده مار:(لین-ده-مار)صفت- د لیندې چلولو استاذ- په لینده دَ ویشتلو ماهر- لیندے-

لینده ماري:(لین-ده-ما-ري)اسم- واحد- مؤنث- لینده چلونه- دَ لیندې چلولو مهارت-

لیندی وال:(لین-دی-وال)صفت- لیندی لرونکے ټوپک، چاقو وغیره- کماني دار- مؤنث لیندی واله-

لیندی:(لین-دی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ ټوپک، تماچې یا چاقو کماني- (۲)دَ ماشومانو لینده- وړوکي لینده- (۳)دَ پیمو یا لاسونو دَ کونړې لاندې رکونه- پلې-

لینګاړے:(لینګ-کا-ړے)اسم- واحد- مذکر- دَ زنګنو پرتوګ- هغه پرتوګ چې زنګنې ورته اچولے شوی وي- پیتاړے-

لینګته:(لینګ-ګه-ته)اسم- واحد- مؤنث- په کشتۍ کښې دَ پښې اچولو داؤ- لنګښې-

لینو ټاپ:(لی-نو-ټاپ)اسم- واحد- مذکر- یو قسم ټاپ مشین چې

www.pukhto.net

د الفاظو پوره کرښه پرې په یو وخت اچولی شي- (انګریزي LINO-TYPE)-
لیول:(لـ-یه-وَل)مصدر متعدي- (۱)عادتول- اموخته کول- (۲)ترغیب ورکول- راړول-
لیون:(لـ-یه-وَن)حاصل مصدر- وګورئ لیول-
لیونکے:(لـ-یه-وون-کے)فاعل- جمع لیونکي- مؤنث لیونکې- وګورئ لیول-
لیونګ:(لـ-یه-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ لیول-
لیونه:(لـ-یه-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ لیول-
لیېدل:(لـ-یې-دَل)مصدر لازم- (۱)عادتېدل- بلـېدل- اموخته کېدل- (۲)ترغیب موندل- راړوېدل-
لیېدلے:(لـ-یې-دَ-لے)صفت مفعول- جمع لیېدلي- مؤنث لیېدلې- وګورئ لیېدل-
لیېدن:(لـ-یې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ لیېدل-
لیېدنګ:(لـ-یې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ لیېدل-
لیېدنه:(لـ-یې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ لیېدل-
لیېدونکے:(لـ-یې-دون-کے)فاعل- جمع لیېدونکي- مؤنث لیېدونکې- وګورئ لیېدل-
لیېدهٔ:(لـ-یې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمرار دَ واحد غائب صیغه- وګورئ لیېدل-
لیه:(لـ-یه)اسم- واحد- مؤنث- جګړه- جنګ-
لیه:(لـ-یه)صفت- لیې- (۱)وزګار- فارغ- (۲)بې کاره- فضول-
لیې:(لـ-یې)صفت- وګورئ لیه-
لېب:(لېب)اسم- واحد- مذکر- اړ- حصار- بند- ایسار-
لېبر:(لې-بر)اسم- واحد- مذکر- د حنې ټېکلې لاړې- ځلیساکې سرکاني-
لېبر:(لې-بر)اسم- واحد- مذکر- (۱)محنت- مشقت- کوشش- مزدوري- کار- کسب- (۲)صفت- مزدور- کسب ګر- مشقتي- (م- انګرېزي)-
لېبل:(لې-بل)اسم- واحد- مذکر- د نښانې کاغذ- هغه چټ چې پرې د څه څیز نامه او پته وغیره لیکلې شوې وي- ټیکه- (م- انګریزي)-
لېت:(لېت)صفت- مهین- اوار- ښوېدونکے- ښوېندارکے- ښوېدانے-
لېت پېت:(لېت-پېت)صفت- لړلے- ککړ- الوده- مؤنث لېته پېته-
لېتر:(لې-تر)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لېټر ۲-
لېتوګرافي:(لې-تو-ګرا-في)اسم- واحد- مؤنث- دَ طباعت هغه طریقه چې اول په کاغذ ولیکلے شي او بیا د کاغذ هغه لیک دَ کاڼي یا اُسپنې دَ پلېټ په ذریعه چاپولے شي- (انګریزي)-
لېت:(لېت)اسم- واحد- مذکر- مرغ زرین- لوښې- لوښی- سائنسي نوم لپهوفورس ایم پې جینس (LOPHOPHORUS IMPEJANUS)-
لېت:(لېت)صفت متعلق فعل- (۱)ایسار شوے- ناوخته راتلونکے- ځنډېدلے- (۲)ناوخته- وروستو- په تاخیر سره-
لېټر:(لې-ټر)اسم- واحد- مذکر- چیټۍ- خط- (انګریزي)-
لېټر:(لې-ټر)اسم- واحد- مذکر- ګروبے- ختېل- ختوبے- لېټی- لېټر-
لېټربکس:(لې-ټر-بکس)اسم- واحد- مذکر- دَ چیټیو صندوق- دَ ډاکخانې هغه صندوق چې خلق پکښې چیټۍ یا خطونه ور اچوي- (انګریزي)-
لېټرین:(لېټ-رین)اسم- واحد- مذکر- دَ لودس ماتي ځاې- ټټي- (انګریزي)-
لېټه:(لې-ټه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لوټه-
لېټۍ:(لې-ټۍ)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ اتوب-
لېث:(لېث)اسم- واحد- مذکر- زمرے- مزرے- شېر- سائنسي نوم پېنتېره پاردس (PANTHERA PARDUS)- (عربي)-
لېجر:(لې-جر)اسم- واحد- مذکر- دَ روزانه حساب کولو کتاب- روزنامچه- دَ سامان د تلو او راتلو د حساب لیکلو رجسټر- (انګریزي)-
لېچ:(لېچ)اسم- واحد- مذکر- لاس- لېچه- د لاس مړوکے- لېڅ-
لېچکے:(لې-چه-کے)اسم تصغیر- د لېچ تصغیر- وړوکے لاس-
لېچه:(لې-چه)اسم- واحد- مؤنث- لېچ- لاس- مړوند- لېچی- لېڅه- جمع لېچې-
لېچي:(لې-چي)اسم- واحد جمع- مذکر- یو قسم مېوه چې لږغن پوستکے او خوږ خوند لري- کنداغ
لېچې بېچې:(لې-چې-بې-چې)صفت- (۱)ښتې- امېږ چمبړ- په یو بل کښې ورننوتي- (۲)سره نښتي- په جګړه- لاندې رتې- (۳- اسم- جمع)انې باتې- اخوا دېخوا- ټال مټول-
لېچۍ:(لې-چۍ)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لېچه-
لېچۍ:(لې-چۍ)اسم- واحد- مؤنث- درشل-
لېخ:(لېخ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لېچ-
لېڅه:(لې-څه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لېچه-
لېڅۍ:(لې-څۍ)اسم- واحد- مؤنث- د وړې خوره وره ګنجي-
لېر:(لېر)اسم- واحد- مذکر مؤنث- (۱)دَ چېلۍ وړوکے بچے- ورغمے- ورغومے- (۲)لور- د فصل رېبلو اله- (۳)لار- لیار-
لېربانهٔ:(لېر-با-نهٔ)اسم- جمع- مذکر- د لېربون جمع- وګورئ لېربون-
لېربنه:(لېر-بـ-نه)اسم- واحد- مؤنث- دَ لېربون مؤنث- وګورئ لېربون-
لېربون:(لېر-بون)اسم- واحد- مذکر- واړهٔ ورغمي (ورغومي) او ګډوري څرونکے- لېربه- جمع لېربانهٔ- مؤنث لېربنه-
لېربه:(لېر-به)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لېربون-
لېرلېد:(لېر-لېد)اسم- واحد- مذکر- دَ لرې لیدونکې اله- دوربین- (افغانستان)-
لېره:(لې-ره)اسم- واحد- مؤنث- لار- لاره- لیار-
لېرې:(لې-رې)صفت- لرې- جدا- په ډېره فاصله- په فواد- په ډېواد-
لېرے:(لې-رے)اسم- واحد- مذکر- د ګډورو او ورغمو (ورغومو) رمه-
لېږ:(لېږ)اسم- واحد- مذکر- قطار- سلسله- لېې- (م- انګریزي لائن)-
لېږڼ:(لېږ-ړن)صفت- وګورئ لاړن-

ي" (غې-رل)، "ې"(مې-ره-ول)، "ی"(ېیا-لی)، "ے"(تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

لېړه:(لي-ړه)اسم- واحد- مؤنث- دَ خلي اَبڼه- لاړه- لیاړه- جمع لېړي-

لېړه:(لي-ړه)اسم- واحد- مؤنث- وېږه- د لرګیو ګاړے-

لېړي:(لي-ړي)اسم- جمع- د لېړه جمع- وګورئ لېړه ۱-

لېزم:(لي-زم)اسم- واحد- مذکر- دَ لیندي یو قسم چې ډېره لچکداره وي-

لېږد:(لېږد)اسم- واحد- مذکر- کوچ- رحلت- روانګی- سفر-

لېږدل:(لېږ-دَل)مصدرِ لازم- روانېدل- کوچ کول- رحلت کول- تلل-

لېږدلے:(لېږ-دَ-لے)صفت/مفعول- واحد- مذکر- وګورئ لېږدل-

لېږدن:(لېږ-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ لېږدل-

لېږدنګ:(لېږ-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ لېږدل-

لېږدنه:(لېږ-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ لېږدل-

لېږدول:(لېږ-دَ-وَل)مصدرِ متعدی- لېږل- استول-

لېږدولے:(لېږ-دَ-وَ-لے)صفت- جمع لېږدولی- مؤنث لېږدولې- وګورئ لېږدول-

لېږدون:(لېږ-دَ-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ لېږدول-

لېږدونکے:(لېږ-دَون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- وګورئ لېږدل-

لېږدونکے:(لېږ-دَ-وون-کے)فاعل- جمع لېږدونکی- مؤنث لېږدونکې- وګورئ لېږدول-

لېږدونګ:(لېږ-دَ-وَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ لېږدول-

لېږدونه:(لېږ-دَ-وَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ لېږدول-

لېږدېدل:(لېږ-دې-دَل)مصدرِ لازم- لېږلے کېدل- استولے کېدل- روانېدل-

لېږدېدلے:(لېږ-دې-دَ-لے)صفت- جمع لېږدېدلی- مؤنث لېږدېدلې- وګورئ لېږدېدل-

لېږدېدن:(لېږ-دې-دَن)حاصلِ مصدر- وګورئ لېږدېدل-

لېږدېدنګ:(لېږ-دې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ لېږدېدل-

لېږدېدنه:(لېږ-دې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ لېږدېدل-

لېږدېدونکے:(لېږ-دې-دون-کے)فاعل- جمع لېږدېدونکی- مؤنث لېږدېدونکې- وګورئ لېږدېدل-

لېږدېدهٔ:(لېږ-دې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ لېږدېدل-

لېږدے:(لېږ-دے)اسم- واحد- مذکر- باری ګاروے- د بېر وړلو عادت ګاروے-

لېږل:(لي-ږَل)مصدرِ متعدی- استول- ور روانول- لېږدول-

لېږلے:(لي-ږَ-لے)صفت/مفعول- جمع لېږلی- مؤنث لېږلې- وګورئ لېږل-

لېږن:(لي-ږَن)حاصلِ مصدر- وګورئ لېږل-

لېږنه:(لي-ږَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ لېږل-

لېږونکے:(لي-ږون-کے)فاعل- جمع لېږونکی- مؤنث لېږونکې- وګورئ لېږل-

لېږهٔ:(لي-ږهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ لېږل-

لېس:(لېس)اسم- واحد- مذکر- (١)فیته- جالی- جالکی- ربشه- (٢)لېږ قېدونکے تار- کتاره- (انګرېزی: LACE)-

لېسټ:(لېسټ)اسم- واحد- مذکر- لسټ- لِسټ- فهرست- فهرس- (م- انګرېزی)-

لېش:(لېش)صفت- (١)ککړ- چټل- کثیف- (٢)اسم- لېو- اخېږ-

لېښت:(لېښت)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لوېښت-

لېښتنګ:(لېښ-تنګ)صفت- وګورئ لوېشتینګ-

لېښتنکے:(لېښ-تَه-نکے)صفت- وګورئ لوېشتینګ-

لېښتینګه:(لېښ-تي-نګه)صفت- مؤنث لېښتینګه- وګورئ لوېښتینګه-

لېښکه:(لي-ښه-که)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لښکه-

لېښکۍ:(لي-ښه-کۍ)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم وابښه چې دَ غنمو په فصل کښې راخېژی-

لېښل:(لي-ښَل)مصدرِ متعدی- وګورئ لوښل-

لېښلے:(لي-ښَ-لے)صفت/مفعول- لوښلے- وګورئ لوښل-

لېښن:(لي-ښَن)حاصلِ مصدر- لوښن- وګورئ لوښل-

لېښنګ:(لي-ښَنګ)حاصلِ مصدر- لوښنګ- وګورئ لوښل-

لېښنه:(لي-ښَ-نه)حاصلِ مصدر- لوښنه- وګورئ لوښل-

لېښونکے:(لي-ښون-کے)فاعل- لوښونکے- وګورئ لوښل-

لېښه:(لي-ښه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لښه-

لېښه:(لي-ښه)اسم- واحد- مؤنث- بې غاښونو ژامه یا ژامنه-

لېښ:(لېښ)اسم- واحد- مذکر- کوچ- تګ- روانګی- سفر- رحلت-

لېښل(١):(لي-ښَل)مصدرِ متعدی- ښکل- په ژبه څټل-

لېښل(٢):(لي-ښَل)مصدرِ متعدی- کوچ کول- روانېدل- سفر کول- تلل- رحلت کول-

لېښلے:(لي-ښَ-لے)صفت/مفعول- جمع لېښلی- مؤنث لېښلې- وګورئ لېښل(١)-

لېښلے:(لي-ښَ-لے)صفت/مفعول- جمع لېښلی- مؤنث لېښلې- وګورئ لېښل(٢)-

لېښن:(لي-ښَن)حاصلِ مصدر- وګورئ لېښل(١)-

لېښن:(لي-ښَن)حاصلِ مصدر- وګورئ لېښل(٢)-

لېښنګ:(لي-ښَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ لېښل(١)-

لېښنګ:(لي-ښَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ لېښل(٢)-

لېښنه:(لي-ښَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ لېښل(١)-

لېښنه:(لي-ښَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ لېښل(٢)-

لېښول:(لي-ښه-وَل)مصدرِ متعدی- وړل- ور روانول- لېږل-

لېښولے:(لي-ښه-وَ-لے)صفت/مفعول- جمع لېښولی- مؤنث لېښولې- وګورئ لېښول-

لېښون:(لي-ښه-وَن)حاصلِ مصدر- وګورئ لېښول-

لېښونکے:(لي-ښون-کے)فاعل- جمع لېښونکی- مؤنث لېښونکې- وګورئ لېښل(١)-

لېښونکے:(لي-ښون-کے)فاعل- جمع لېښونکی- مؤنث لېښونکې- وګورئ

www pukhto net

لېښل(۲)-

لېښونکے:(لي-ښه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ لېښول-

لېښونګ:(لي-ښه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ لېښول-

لېښونه:(لي-ښه-وڼه)حاصل مصدر- وګورئ لېښول-

لېښېدل:(لي-ښي-دل)مصدر لازم- تلل- کوچ کول- روانېدل-

لېښېدلے:(لي-ښي-دلے)صفت مفعول- جمع لېښېدلي- مؤنث لېښېدلې- وګورئ لېښېدل-

لېښېدن:(لي-ښي-دن)حاصل مصدر- وګورئ لېښېدل-

لېښېدنګ:(لي-ښي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ لېښېدل-

لېښېدنه:(لي-ښي-دڼه)حاصل مصدر- وګورئ لېښېدل-

لېښېدونکے:(لي-ښي-دون-کے)فاعل- جمع لېښېدونکي- مؤنث لېښېدونکې- وګورئ لېښېدل-

لېښېدهٔ:(لي-ښي-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري دٔ واحد غائب صيغه- وګورئ لېښېدل-

لېطر:(لي-طر)اسم- واحد- مذکر- د مائعاتو يوه فرانسيسي پيمانه چې تقريباً د پاؤکم دوه پوندو برابره وي-

لېغړے:(لي-غه-ړے)صفت- خراب- پهٔ بد حال شوے-

لېکن:(لي-کن)اسم- واحد- مذکر- د کېږدۍ دړه- لېکڼ-

لېکن:(لے-کن)حرف عطف- خو- مګر-

لېکڼ:(لي-کڼ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لېکن-

لېل:(لېل)اسم- واحد- مذکر- شپه- شب-

لېلام:(لے-لام)اسم- واحد- مذکر- د بولۍ پهٔ ذريعه څهٔ څيز خرڅونه- نيلام-

لېلامچي:(لے-لام-چي)صفت- لېلامونکے- د بولۍ پهٔ ذريعه خرڅونکے-

لېلامول:(لے-لا-مه-ول)مصدر متعدي- (۱)پهٔ بولۍ خرڅول- نيلامول- (۲)پهٔ ارزانه بيه خرڅول-

لېلامون:(لے-لا-مه-ون)حاصل مصدر- وګورئ لېلامول-

لېلامونکے:(لے-لا-مه-وون-کے)فاعل- جمع لېلامونکي- مؤنث لېلامونکې- وګورئ لېلامول-

لېلامونګ:(لے-لا-مه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ لېلامول-

لېلامونه:(لے-لا-مه-وڼه)حاصل مصدر- وګورئ لېلامول-

لېلامېدل:(لے-لا-مي-دل)مصدر لازم- (۱)نيلامېدل- دٔ بولۍ پهٔ ذريعه خرڅېدل- (۲)پهٔ ارزانه بيه خرڅېدل-

لېلامېدن:(لے-لا-مي-دن)حاصل مصدر- وګورئ لېلامېدل-

لېلامېدنګ:(لے-لا-مي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ لېلامېدل-

لېلامېدنه:(لے-لا-مي-دڼه)حاصل مصدر- وګورئ لېلامېدل-

لېلامېدونکے:(لے-لا-مي-دون-کے)فاعل- جمع لېلامېدونکي- مؤنث لېلامېدونکې- وګورئ لېلامېدل-

لېلامېدهٔ:(لے-لا-مي-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري دٔ واحد غائب صيغه- وګورئ لېلامېدل-

لېله:(لي-له)اسم- واحد- مؤنث- عادت- خوئ- خصلت- جمع لېلې-

لېلة القدر:(لے-له-تل-قه-در)اسم مرکب- شبقدر- شوقدر- دٔ قدر شپه- بزرګه شپه- مرتبه لرونکې شپه- هغه شپه کومه چې الله تعالےٰ دٔ قسمتونو تقسيمولو د پاره ټاکلې ده- د دې شپې پهٔ تعين کښې اختلاف دے، بعضې خلق د ۱۵ شعبان بعضې ۲۲ رمضان او بعضې د ۲۷ رمضان شپه دغه شپه ګڼي- د دې شپې عبادت د زرو مياشتو دٔ عبادت برابر دے-

لېلى:(لے-لا)صفت- (۱)توره- سکڼه- شب رنګه- (۲)اسم معرفه- دٔ مجنون (قيس) معشوقه- د مجنون د محبوبې نامه- (۳)معشوقه- محبوبه-

لېمن:(لي-من)اسم- واحد- مذکر- لېمو- نيمبو- دٔ نارنج دٔ قسم يوه تروشه مېوه- نباتاتي نوم سيټرس اسيډا يا سی - ميډيکا CITRUS ACIDA or C. MEDICA-

لېمونېو:(لي-مو-نېو)اسم- واحد- مذکر- دٔ لېمو يا نيمبو شربت-

لېمهٔ:(لي-مهٔ)اسم- واحد جمع- مذکر- سترګې- چشمان-

لېنګور:(لېنګ-ګه-ور)صفت- غټ غټ لېنګې لرونکے بنيادم- لوئ لوئ پنډۍ لرونکے بنيادم-

لېنګے:(لېنګ-ګے)اسم- واحد- مذکر- لهٔ ګونډو نه تر ژنګانهٔ پورې دٔ پښې حصه- پنډۍ- جمع لېنګې-

لېننزم:(لے-نن-ازم)اسم- واحد- مذکر- د رروس انقلابي نظريه چې د رروسيانو د اشتراکي ليډر لېنن سره منسوب کړے شوې ده-

لېن:(لېن)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لېر-

لېن دېن:(لېن-دېن)اسم مرکب- ورکړه راکړه- روزګار- تعلق- لېن دېن-

لېن سوتېن:(لېن-سو-تېن)اسم مرکب- بکته والے پورته والے- لاندے باندے-

لېو:(لېو)صفت- (۱)لېونے- چمبړ- (۲)اسم- مذکر- دٔ نښلولو کار- اخېړ- جمع لېوونه-

لېوال:(لي-وال)صفت- (۱)ارزومند- مشتاق- (۲)عاشق- مئين-

لېوالتوب:(لي-وال-توب)اسم- واحد- مذکر- لېوالتيا- (۱)ارزومندي- غښتنه- اشتياق- (۲)عاشقي- مئينتوب-

لېوالتيا:(لي-وال-تيا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لېوالتوب-

لېوالول:(لي-وا-له-ول)مصدر متعدي- ارزومند جوړول- مشتاق جوړول-

لېوالون:(لي-وا-له-ون)حاصل مصدر- وګورئ لېوالول-

لېوالونکے:(لي-وا-له-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع لېوالونکي- مؤنث لېوالونکې- وګورئ لېوالول-

لېوالونګ:(لي-وا-له-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ لېوالول-

لېوالونه:(لي-وا-له-وڼه)حاصل مصدر- وګورئ لېوالول-

لېوالېدل:(لي-وا-لي-دل)مصدر لازم- (۱)ارزومند کېدل- مشتاق کېدل- (۲)مئينېدل-

لېوالېدن:(لي-وا-لي-دن)حاصل مصدر- وګورئ لېوالېدل-

ئ (ښی-ول)، ي (هي-ره-ول)، ی (پيا-لی)، ے (تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۹

www pukhto net

لېوالېدنګ:(لي-وا-لې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ لېوالېدل-

لېوالېدنه:(لي-وا-لې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ لېوالېدل-

لېوالېدونکے:(لي-وا-لې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع لېوالېدونکي- مؤنث لېوالېدونکې- وګورئ لېوالېدل-

لېوالېده:(لي-وا-لې-دهٔ)حاصلِ مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ لېوالېدل-

لېوان:(لي-وان)اسم- جمع- مذکر- دَ لېوهٔ جمع- وګورئ لېوهٔ-

لېودبو:(لېو-دبو)اسم- واحد- مذکر- ګوزاره- ساعت تېرے- قوت لايموت-

لېور:(لي-ور)اسم- واحد- مذکر- دَ خاوند ورور- جمع لېورونه-

لېورخې:(لي-ور-خې)اسم- واحد- مؤنث- لېورزې- دَ خاوند دَ ورور لور-

لېورخے:(لي-ور-خے)اسم- واحد- مذکر- دَ لېور ځوئ- دَ خاوند دَ ورور ځوئ- لېورزے- مؤنث لېورخې- جمع لېورخي-

لېورزې:(لي-ور-زې)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لېورخې-

لېورزے:(لي-ور-زے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لېورخے-

لېوړې:(لېو-ړې)اسم- واحد جمع- مؤنث- لهٔ غوړو او ګنځلو سره جوړې يو قسم د خوراک خوږې دانې- رېوړې-

لېوکټے:(لېو-کټے)اسم- واحد- مذکر- دَ لېوهٔ بچے- دَ شرمښ بچے- وروکے لېوهٔ- جمع لېوکټي-

لېول:(لي-ول)اسم- واحد- مذکر- هوارے- هواروالے- (۲)دَ هوارى معلومولو اله-

لېون باګے:(لي-ون-با-ګے)صفت- لېون سارے- لېون بغرے- لېونتيارے- لېونے- مدوب- مجذوب- لېون سودے- لېونغرتے- لېونغرے- لېون سرے-

لېون بغرے:(لي-ون-بغ-رے)صفت- وګورئ لېون باګے-

لېونتوب:(لي-ون-توب)اسم- واحد- مذکر- دَ لېوني کېدو حالت- لېونے کېدنه- لېونتيا- ديوانه توب-

لېونتون:(لي-ون-تون)اسم- واحد- مذکر- دَ لېونو ځائ- پاګل خانه- (افغانستان)-

لېونتيا:(لي-ون-تيا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ لېونتوب-

لېونتيارے:(لي-ون-تيا-رے)صفت- وګورئ لېون باګے-

لېون سرے:(لي-ون-سرے)اسم صفت- وګورئ لېون باګے-

لېون سودے:(لي-ون-سو-دے)صفت- وګورئ لېون باګے-

لېون شک:(لي-ون-شک)صفت- نيم لېونے- هغه څوک چې دَ لېوني شک پرې کېږي-

لېونغرتے:(لي-ون-غر-تے)صفت- وګورئ لېون باګے-

لېونغرے:(لي-ون-غ-رے)صفت- وګورئ لېون باګے-

مباهات:(م-با-هات)اسم- واحد- مذکر- فخر- لوئی- شان و شوکت- د تصوف یوه اصطلاح- (شاعری)- (عربی)-

"ې" (ښې-رل)، "ي"(مې-ره-ول)، "ی"(میا-لې)، "ے"(تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

مباطله(مُ-با-طه-له)اسم- واحد- مؤنث- یو بل ته بتېری کونه- یو بل ته بد وئیل- (عربی)-

مبتدا(مب-تـه-دا)اسم- واحد- مذکر- (۱)آغاز- شروع- ابتداء- (۲)صفت- د گرامر په اصطلاح کښې دٔ جمله اسمیه هغه ټوکړه چې دٔ مسندالیه په طور راغلي وی- (م- عربی)-

مبتدی(مُب-تـه-دی)صفت فاعل- ابتدا کونکے- شروع کونکے- (عربی)-

مبتذل (مب-تـه-ذل)صفت مفعول- ذلیل- خوار- سپک ټټ- کمینه- (م- عربی)-

مبتکر (مب-تـه-کر)صفت فاعل- نوے څیز راوړونکے- (م- عربی)-

مبتلا(مُب-تـه-لا)صفت مفعول- گرفتار- کېر- نښتے- اخته- لگیا- بندیوان- راایسار-

مبحث(مب-حث)اسم- واحد- مذکر- بحث- دٔ بحث موضوع- (عربی)-

مبخره(مُب-خ-ره)صفت- (۱)ټول- ټیخی- کلهم- تمامی- (۲)مسی- وېریا- (افغانستان)-

مبدا(مُب-دا)اسم- واحد- مذکر- (۱)دٔ شروع کېدو ځای- دٔ څرګندېدو ځای- (۲)ابتداء- شروع- آغاز- بنیاد- جرړه- اصل- چشمه-

مبدل(مُ-بَد-دل)صفت مفعول- بدل کړے شوے- تبدیل کړے شوے- اړولے شوے- (عربی)-

مبرا(مُ-بر-را)صفت- (۱)آزاد- بری- (۲)پاک- سپېځلے- بې عیبه- بې گناه- (۳)وېزار- (عربی)-

مبرز(مب-رز)اسم- واحد- مذکر- چرچوبی- تښی-

مبرهن(مُب-ره-هن)صفت- دٔ دلیل نه ثابت شوے- څرګند- ښکاره- کوټلے- مضبوط- (عربی)-

مبشر(مُ-بش-شر)صفت- بشارت یا خوشخبری اوروُنکے یا رسوُنکے- زیرے کوُنکے- (م- عربی)-

مبصر(مُ-بص-صر)صفت- (۱)ښل پوهونکے- کره کوټه معلوموُنکے یا پرې پوهېدونکے- لیدونکے- (۲)صراف- (م- عربی)-

مبعوث(مب-عُوث)صفت مفعول- لېږلے شوے- استولے شوے- پیدا کړے شوے- (عربی)-

مبلغ(مُ-بل-لغ)صفت فاعل- تبلیغ کونکے- رسونکے- (م- عربی)-

مبلغ(مُب-لغ)اسم- واحد- مذکر- (۱)رقم- مقدار- د مال اندازه- (۲)صفت ټول- کل- جمع- (م- عربی)-

مبنی(مُب-نی)صفت- بنیاد ایښوے شوے- د بنیاد ایښودو ځای- (عربی)-

مبهم(مُب-هم)صفت- داسې خبره چې مطلب یٔ واضحه نهٔ وی- مشکوک- شکی-

مبهوت(مُب-هوت)صفت- حیران- وارخطا- هک پک- (م- عربی)-

مبهی(مُ-به-هی)صفت فاعل- قوت باه زیاتونکے- شهوت زیاتونکے- (م- عربی)-

مبین(مُ-بین)صفت فاعل- ظاهر- ښکاره- څرګند- (م- عربی)-

مبین(مُ-بی-ین)صفت- بیان شوے- ښکاره کړے شوے- (م- عربی)-

متابعت (مُ-تا-ب-عت)اسم- واحد- مذکر- پېروی- اطاعت- (م- عربی)-

متاثر (مُ-تا-اث-ثر)صفت فاعل- چې اثر یٔ قبول کړے وی- (م- فارسی)-

متاځ (مُ-تاځ)صفت- دٔ محتاج مغفن- موتاځ-

متاخر (مُ-تـ-اخ-خر)صفت فاعل- وروستو راتلونکے- (م- عربی)-

متاخرین (مُ-تا-اخ-خ-رین)صفت- جمع- دٔ متاخر جمع- وروستو راتلونکی خلق- دٔ مقدمین ضد- (م- عربی)-

متارکه(مُ-تا-ر-که)اسم- واحد- مؤنث- دشمنی لږ وخت د پاره ختمونه- عارضی روغه- کاڼے ایښودنه- (م- عربی)-

متاسف(مُ-تـه-اس-سف)صفت- افسوس کوُنکے- (م- عربی)-

متاسفانه(مُ-تا-اس-سې-فا-نه)متعلق فعل- دٔ افسوس سره- (عربی- فارسی)-

متاع(مـ-تاع)اسم- واحد- مؤنث- مال دولت- مال اسباب- پنګه- سرمایه- (م- عربی)-

متال(مـ-تال)صفت- (۱)معطل- (۲)اسم- واحد- مذکر- متل-

متانت(مـ-تا-نت)اسم- واحد- مذکر- دروندوالے- سنجیدګی- دٔ خیالاتو درستوالے- مضبوطیا- (م- عربی)-

متبادل(مُ-تـه-با-دل)صفت- (۱)بدلېدونکے- (۲)دٔ یو په بدل کښې بل- (م- عربی)-

متبادله(مُ-تـه-با-د-له)صفت- (۱)هغه چې بدل شوے وی- (۲)په جیومیټری کښې چې کله دوه متوازی خطونه بل دریم خط نیم کړی نو دغسې دواړه اړخ ته زاویې متبادله وئیلے شی- په شرط د دې چې متصله نهٔ وی-

متبحر(مُ-تـه-بح-حر)صفت- (۱)ډیر لویٔ عالم- علامه- چې ډېر علم یٔ حاصل کړے وی- (۲)ډېر مالدار- (۳)ډېر پوهونکے- غرق- (م- عربی)-

متبدل(مُ-تـه-بد-دل)صفت- بدل شوے- بدل-

متبر(مُ-تـه-بر)صفت- معتبر- دٔ معتبر مغفن-

متبرک(مُ-تـه-بر-رک)صفت- دٔ برکت والا- برکتی- پاک- مقدس- عزتمند- بادمن- بزرګ- (عربی)-

متبسم(مُ-تـه-بس-سم)صفت فاعل- خندېدونکے- مسکېدونکے- (م- عربی)-

متبع(مُت-تـه-بع)صفت- چا پسې تلونکے- پېروی کوُنکے- پېرو- (عربی)-

متبنٰی(مُ-تـه-بن-نا)صفت- دینی ځویٔ- بالکے- نوملے ځویٔ- (م- عربی)-

متبوع(مَت-بوع)صفت- چې دٔ چا پېروی کولے شی- مشر- پېشوا- (م- عربی)-

متجاوز (مُ-تـه-جا-وز)صفت- تجاوز کوُنکے- دٔ خپل حد نه تېرېدونکے- (م- عربی)-

متجسس(مُ-تـه-جس-سس)صفت- جاسوس- لټونکے- پلټونکے- (م- عربی)-

متحارب(مُ-تـه-حا-رب)صفت- په خپلو کښې جنګ کوُنکی- (م- عربی)-

متحد (مُت-تـه-حد)صفت- اتحاد ساتونکے- متفق- (م- عربی)-

متحرک(مُ-تـه-حر-رک)صفت- حرکت کوُنکے- خوځېدونکے- روان-

زبر"(خ-سه ره)، زورکے"(شل)، پېښ"(تو-کا-ره)، رمز (ک-ساب) سوم (شکوپ)، ه (ر-ږه)، "ة"(پو-سي-ده)

www.pukhto.net

شوریدونکے- (م- عربي)-

متحمل:(مُ-تَه-حم-مِل)صفت فاعل- برداشت کوُنکے- زغونکے- مستقل مزاجه- د لوئ زړهٔ خاوند- صابر- (م- عربي)-

متحیر:(مُ-تَه-حیْ-یِر)صفت- هک پک- تعجب کوُنکے- پهٔ حیرت کښې- حیران- (م- عربي)-

متخلص:(م-تَه-خل-لِص)صفت- تخلص لرونکے- (م- عربي)-

متخیل:(م-تَه-خیْ-یِل)صفت فاعل- پهٔ خیال کښې راوستونکے- خیال کونکے- خیالي- وهمي- (م- عربي)-

متخیله:(م-تَه-خیْ-یِ-له)اسم- مؤنث- د خیال قوت- دماغ- (م- عربي)-

متداول:(م-تَه-دا-وِل)صفت- هغه چې زار پهٔ زار اخستے شي- لاس پهٔ لاس گرځېدونکے- مروج- رسمي- مشهور- (م- عربي)-

متدین:(م-تَه-دیْ-یِن)صفت- دیندار- د ښهٔ عقیدې-

متذبذب:(م-تَه-ذب-ذِب)صفت- تذبذب کونکے- مذبذب- دوه زړے- وسواس کوُنکے- (م- عربي)-

متذکره:(م-تَه-ذک-کِره)صفت- بیان کړے شوے- یاد کړے شوے- (م- عربي)-

متر:(مه-تر)اسم- واحد- مذکر- هغه ځلک چې پهٔ لوبه کښې متر جوړ کړے شوے وي-

متر:(مه-تَر)اسم- واحد- مذکر- دوست- ملګرے- اشنا-

متر:(مه-تَر)اسم- واحد- مذکر- بغیر تومنې ماستهٔ-

مترادف:(مُ-تَه-را-دِف)صفت- داسې دوه لفظونه چې معنې ئې یو رنګ وي- هم معنی-

متراوړ:(مت-را-وړ)صفت- هغه ځلک چې پهٔ خوب کښې منیاږي کوي- منیاږي- منیاږکے-

متربا:(مت-ره-با)اسم- واحد- مؤنث- د مرتبه وران شکل-

متربه:(مت-ره-به)اسم- واحد- مؤنث- د مرتبه وران شکل-

مترجم:(م-تَر-جِم)صفت فاعل- ترجمه کونکے- ژباړن- (عربي)-

متردد:(مُ-تَه-رد-دِد)صفت فاعل- تردد کوُنکے- فکرمن- ناقلاره- پرېشانه- (عربي)-

متړ:(مت-ړ)صفت- د متباړو داړه- د متباړو کنده شوے-

مترشح:(م-تَه-رش-شِح)صفت فاعل- (۱)څڅېدونکے- (۲)عیان- ښکاره- (م- عربي)-

مترصد:(م-تَه-رص-صِد)صفت فاعل- انتظار کوُنکے- څارو- امیدوار- (م- عربي)-

مترغزی:(م-تر-غه-زی)اسم- واحد- مذکر- مازغهٔ- ماغزهٔ-

مترقي:(مُ-تَه-رق-قي)صفت فاعل- ترقي کونکے- پرمختګ کونکے-

مترکه:(م-تَر-که)اسم- واحد- مؤنث- وړوکے ډبلکه- څټۍ-

مترنم:(م-تَه-رن-نِم)صفت فاعل- سندرې ویونکے- سندرغاړے-

متروک:(مت-روک)صفت مفعول- ترک کړے شوے- ختم کړے شوے- پرېښودے شوے- ورک شوے-

متروکات:(مت-رو-کات)جمع- د متروک جمع-

متروکه:(مت-رو-که)اسم- واحد- مؤنث- وګوری متروک-

متروکه:(مت-رو-که)اسم- واحد- مؤنث- وړه کړوړه چې د اس وغیره د حملولو د پاره پکارولے شي- چابک- (م- عربي- مطرقه)-

متره:(مت-ره)صفت- نه پېدا کېدونکے- نایاب- کمیاب- چې ډېر کم موندے شي- (۱)قیمتي- نادر- (۲)چرچرانکه- یوه مرغۍ-

متره:(مت-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)همت- طاقت- زور- دم- (۲)ماستهٔ- چکه- پوسته- خربوږے- (افغانستان)-

متریکه:(مت-ری-که)اسم- واحد- مؤنث- چابک- متروکه-

متز:(مه-تز)صفت- بې وقوفه- کم عقل-

متز:(مه-تز)صفت- منیاږ-

متزلزل:(م-تَه-زل-زِل)صفت- خوځېدونکے- رپېدونکے- رپېدونکے-

(م- عربي)-

متساوي:(م-تَه-سا-وي)صفت- یو بل سره برابر- یو بل سره مساوي- برابر-

متساهل:(م-تَه-سا-هِل)صفت- هغه کس چې هر یو کار ورته اسان وي- (م- عربي)-

متسلسل:(م-تَه-سل-سِل)صفت متعلق فعل- پرله پسې- سلسله وار- (م- عربي)-

متشابه:(مُ-تَه-شا-بِه)صفت- پهٔ یو شکل- سره ورته- پهٔ یو شکل- پهٔ یو شان- (م- عربي)-

متشابهات:(مُ-تَه-شا-بِ-هات)صفت- (۱)د متشابه جمع- (۲)د قرآنی آیتونو قسم- د محکمات ضد-

متشاعر:(م-تَه-شا-عِر)اسم- واحد- مذکر- نقلي شاعر- هغه سړے چې خپله شاعر نهٔ وي او د بل شعرونه خان پورې تړي- (م- عربي)-

متشدد:(مُ-تَه-شد-دِد)صفت- تشدد کوُنکے- سختي کونکے- (م- عربي)-

متشرع:(م-تَه-شر-رِع)صفت- پهٔ شریعت برابر- د شریعت پابند- (م- عربي)-

متشکر:(م-تَه-شک-کِر)صفت- شکرګذار- شکر کوُنکے-

متشکل:(مُ-تَه-شک-کِل)صفت- شکل اختیاروُنکے- پهٔ یو شکل کېدونکے- (م- عربي)-

متصادم:(م-تَه-صا-دِم)صفت- ټکېدونکے- ټغره وهونکے- (م- عربي)-

متصدي:(مُ-تَه-صد-دي)اسم- واحد- مذکر- حساب کتاب کوُنکے- منشي- کاتب- پېشکار- (م- عربي)-

متصرف:(مُ-تَه-صر-رِف)صفت- تصرف کونکے- قبضه کوُنکے- (م- عربي)-

متصل:(م-تَه-صِل)صفت- نژدې- خوا کښې- لګېدلے- جخت- پورې- (م- عربي)-

متصور:(مُ-تَه-صو-وِر)صفت- پهٔ خیال کښې راوستے شوے- خیال کړے شوے-

متصوف:(مُ-تَه-صو-وِف)صفت- صوفي جوړېدونکے- (م- عربي)-

ئ" (ښي-رل)، ي"(مې-ره-ول)، ې"(پېيا-ليي)، يې"(تن-ديي) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

متضاد:(مُ-تَه-ضاد)صفت- برخلاف- اپوټه- ضد- منافي- (م- عربي)-
متعارف:(مُ-تَه-عا-رِف)صفت- (۱)یو بل پېژندونکے- سره واقف- (۲)مشهور- معروف- (م- عربي)-
متعجب:(مُ-تَه-عَج-جب)صفت- حېران- هک پک- حریان- ګـټه په خُله- (عربي)-
متعدد:(مُ-تَه-عد-دِد)صفت- ډېر- ګڼ- بې شمېره- د یو نه زیات- (م- عربي)-
متعدی:(مُ-تَه-عد-دي)صفت- (۱)د یو نه بل ته لګېدونکے مرض- (۲)حد نه زیاتېدونکے- (۳)هغه فعل چې مفعول غواړي-
متعصب:(مُ-تَه-عص-صِب)صفت- بغضي- کینه ور- تعصب کوُنکے- (عربي)-
متعلق:(مُ-تَه-عل-لِق)صفت- تعلق لرونکے- اړیکه لرونکے- علاقه لرونکے- (عربي)-
متعلقات:(مُ-تَه-عل-لِ-قات)صفت- جمع- هغه څیزونه چې نورو څیزونو سره تعلق لري- د متعلق جمع- (م- عربي)-
متعلم:(مُ-تَه-عل-لِم)اسم- واحد- مذکر- طالب علم- شاګرد- علم حاصلونکے- (م- عربي)-
متعه:(مُ-تَه-عه)اسم- واحد- مؤنث- په شیعه مذهب کښې ښځه دَ څه مودې دَ پاره په نکاح کښې ساتل- (م- عربي)-
متعین:(مُ-تَه-عي-يِن)صفت- مقرر کړے شوے- تعین کړے شوے- (م- عربي)-
متغیر:(مُ-تَه-غي-يِر)صفت/مفعول- بدل شوے- تقسیم شوے- بې ثباته- پرېشانه- (م- عربي)-
متفرق:(مُ-تَه-فر-رِق)صفت- جدا جدا- بیل بیل- مختلف- جوارۀ وارۀ- ګډوډ-
متفرقات:(مُ-تَه-فر-رِ-قات)صفت- جمع- د متفرق جمع- مختلف او جدا جدا څیزونه- (م- عربي)-
متفق:(مُت-تَه-فِق)صفت- اتفاق کوُنکے- ګډون کوُنکے- شامل- ګډ- (م- عربي)-
متفقه:(مُ-تَه-فِ-قه)متعلق فعل- په اتفاق سره-
متفکر:(مُ-تَه-فک-کِر)صفت- فکر کوُنکے- فکرمند- خفه- (م- عربي)-
متقابل:(مُ-تَه-قا-بِل)صفت- یو بل سره مقابله کوُنکے- مخالف- مخامخ- (م- عربي)-
متقارب:(مُ-تَه-قا-رِب)اسم- واحد- مذکر- (۱)یو بل ته نژدې- یو بل سره نژدې- (۲)دَ عروضو په علم کښې دَ یو بحر نوم- (م- عربي)-
متقاضی:(مُ-تَه-قا-ضي)صفت- تقاضه کوُنکے- غوښتونکے- (م- عربي)-
متقاعد:(مُ-تَه-قا-عِد)صفت- (۱)ګوشه نشین- (۲)ریټائر شوے- له ملازمته پیشنی- (افغانستان)- (م- عربي)-
متقدم:(مُ-تَه-قد-دِم)صفت- (۱)مخکښې تلونکے- مخکښې کېدونکے- (۲)پخوانے- اګاهونے- زوړ-
متقدمین:(مُ-تَه-قد-دِ-مین)صفت- جمع- د متقدم جمع- پخواني خلق-

متقی:(مُت-تَه-قي)صفت- پرهېزګار- نېک- زاهد- (م- عربي)-
متکا:(مُ-تَه-کا)اسم- واحد- مؤنث- تکیه ګاه- متکه-
متکبر:(مُ-تَه-کب-بِر)صفت- (۱)کبر کوُنکے- غاوره- کبرژن- (۲)دَ الله تعالی یو صفتی نوم- (م- عربي)-
متکلم:(مُ-تَه-کل-لِم)صفت- خبرې کوُنکے- (م- عربي)-
متکلمین:(مُ-تَه-کل-لِ-مین)صفت- جمع- (۱)دَ متکلم جمع- (۲)دَ علم کلام دَ ماهرینو یوه ډله چې دیني خبرې په عقل ثابتوي- (م- عربي)-
متل:(مَ-تَل)اسم- واحد- مذکر- یوه وړه جمله چې دَ یوې ژبې دَ ویونکیو اکثریت يې هوښیارتیا دَ تجربې په حېثیت قبلوي- مثال- ضرب المثل-
متلاشی:(مُ-تَه-لا-شي)صفت- تلاش کوُنکے- لټون کوُنکے- دړۀ کوُنکے- (عربي)-
متلاطم:(مُ-تَه-لا-طِم)صفت- په جوش کښې- چپې په چپې- (م- عربي)-
متلون:(مُ-تَه-ل-وِن)صفت- رنګ بدلوُنکے- رنګ په رنګ کېدونکے- غیر مستقل مزاجه- (م- عربي)-
متلی:(مَ-تَه-لي)صفت- هغه سړے چې په هره خبره کښې متل استعمالوي-
متمتع:(مُ-تَه-مت-تِع)صفت- نفع حاصلوُنکے- فائده حاصلوُنکے- (م- عربي)-
متمدن:(مُ-تَه-مد-دِن)صفت- مهذب- تمدن لرونکے- فرهنګیالے- (م- عربي)-
متمرد:(مُ-تَه-مر-رِد)صفت- باغي- نافرمانه- (م- عربي)-
متمنی:(مُ-تَه-من-ني)صفت- اُمید لرونکے- طمعدار- (م- عربي)-
متموج:(مُ-تَه-مو-وِج)صفت- چپې وهونکے- په غرځنګ- (م- عربي)-
متمول:(مُ-تَه-مو-وِل)صفت- مالدار- دولتمند- (م- عربي)-
متن:(مَ-تَن)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ کتاب عبارت- دَ کتاب دَ منځ اصل عبارت- (۲)دَ حاشیه ضد-
متنازعه:(مُ-تَه-نا-زِ-عه)صفت- هغه څیز چې په باره کښې يې تنازعه وي- (م- عربي)-
متناقض:(مُ-تَه-نا-قِض)صفت- یو بل سره اختلاف لرونکی- مخالف- دَ یو بل ضد- (م- عربي)-
متنفر:(مُ-تَه-نف-فِر)صفت- نفرت کوُنکے- زړۀ بدے- وېزار- خوابدے- کرکژن- (م- عربي)-
متنک:(مِ-تَنک)اسم- واحد- مذکر- پړے- رسۍ-
متنوع:(مُ-تَه-نو-وِع)صفت- رنګارنګ- (م- عربي)-
متواتر:(مُ-تَه-وا-تِر)صفت/متعلق فعل- په یو مخ- پرله پسې- سلسله وار- (م- عربي)-
متوازن:(مُ-تَه-وا-زِن)صفت- (۱)پوره په پوره- برابر- (م- عربي)-
متوازی:(مُ-تَه-وا-زي)صفت- (۱)په یو فاصله- یو بل سره په برابره فاصله کښې راتلونکے- (۲)هغه خطونه چې بالکل سیده یو بل ته مخامخ په یوه فاصله وي او هیڅرې یو بل سره نۀ لګي- (م- عربي)-
متواضع:(مُ-تَه-وا-ضِع)صفت- (۱)عاجزي کوُنکے- خاکساري کوُنکے-

www.pukhto.net

(۲)خاطر مدار کونکے- تواضع کونکے- (م- عربي)-
متوجه:(مُ-تَه-وَج-جِه)صفت.فاعل- (۱)توجه کوُنکے- فهم کرځونکے- خیال کوُنکے- (۲)مخاطب-
متورع:(مُ-تَه-وَر-رِع)صفت- پرهېزګار- زاهد- (م- عربي)-
متوسط:(مُ-تَه-وَس-سِط)صفت- د مینځ- دَ اوسطي درجې- مینځنے- مینځومانه- (م- عربي)-
متوطن:(مُ-تَه-وَط-طِن)صفت- وسېدونکے- د وطن اصلي استوګے- (م- عربي)-
متوفي:(مُ-تَه-وَف-فَا)صفت- وفات شوے- مړ شوے- (م- عربي)-
متوفي:(مُ-تَه-وَف-فِي)فاعل- وفات کونکے- مړ کوُنکے- (م- عربي)-
متوقع:(مُ-تَه-وَق-قِع)صفت- توقع لرونکے- امېدوار- (م- عربي)-
متوکل:(مُ-تَه-وَک-کِل)صفت- توکل کونکے- توکلي- (م- عربي)-
متولد:(مُ-تَه-وَل-لِد)صفت- پیدا کېدونکے- (م- عربي)-
متولي:(مُ-تَه-وَل-لِي)صفت- انتظام کونکے- (م- عربي)-
متوهم:(مُ-تَه-وَه-هِم)صفت- وهم کوُنکے- ګومان کوُنکے- وسواسي- (م- عربي)-
مته:(مه-تَه)اسم- واحد- مؤنث- سور- خنزیر- بدخناور- خرګ- (۲)هغه خنزیر چې ماده طلب ري- (۲- متعلق مل)خل- ولړ- نومت- جمع متې-
مته:(مُ-تَه)اسم- واحد- مؤنث- سمن- جمع متې-
مته:(مه-تَه)اسم- واحد- مؤنث- د ترکاڼ یو اوزار- برمه- جمع متې-
متي:(مه-تي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)اند- مالی-
متبارک:(مت-یا-رک)صفت- وګورئ مبارک-
متیازې:(مت-یا-زې)صفت- واحد جمع- مذکر- په خوب کښې متیازې کونکے- متیازک- متراړ- متیازړ- متیازنے-
متیازنے:(مت-یا-زَ-نے)صفت- وګورئ متیازړ-
متیازړ:(مت-یا-زړ)صفت- وګورئ متیازړ-
متیازې:(مت-یا-زې)اسم- جمع- مؤنث- (۱)اوارهٔ بول- (۲)بطعه-
متیزک:(م-تیز-زک)صفت- (۱)هغه سړے چې قطره قطره متیازې ی ځاځي- (۲)د مسلسل بول مریض-
متیکې:(مه-تي-کې)اسم- واحد جمع- مؤنث- سختي- سختي-
متین:(مه-تین)صفت- (۱)مضبوط- محکم- کلک- پائېدار- مستحکم- (۲)د الله تعالی یو صفتي نوم- (م- عربي)-
متیره:(مه-تي-ره)اسم- واحد- مؤنث- د ترکارۍ یو قسم-
مټ:(مټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)د زړی نه تر څنګل پورې د لاس برخه- (۲)کوشش- همت- قوت- عزم-
مټ:(مټ)اسم- واحد- مذکر- (۱)چاټي- خوم- منګے- (۲)هغه نرمه او پسته خټه چې د سېلاب غرځېدو نه پس په زمکه پاتې شي- ښوئېدونکي خټه- سیمه خټه- ریګ خاوره- لهم- لخه-
مټ:(مټ)تابع مهمل- د کټ تابع مهمل- بالکل- دغه شان- کټ مټ-

شو نه هو-
متبا:(مه-تبا)اسم- واحد- مذکر- د شوملو کټوې- هغه کټوې چې شوملې پکښې کولے شي-
متباډ:(مه-تباډ)صفت- (۱)کلک غړ چې ماتېدے نه شي او چکی پکښې نه وي- د چغزی ضد- (۲)یوه اعوبه وبه-
متاکو:(مه-تبا-کو)اسم- واحد- مذکر- یو قسم واښهٔ چې دَ اَبو دَ سر دَ پاسه زي-
متباکه:(مه-تبا-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د ماشي یا وريې د چګ نبثه- مټوري- (۲)ګرمکه- دانه- (۳)یو مرض- (۴)دَ چغري ضد- کلکه- سخته-
متباکي دانې:(مه-تبا-کي-دا-نې)اسم- جمع- مؤنث- دَ وریې هغه دانې چې پوره پخې شوې نه وي او اومې پاتې شوې وي-
متباکے:(مه-تبا-کے)صفت- کلک- سخت- جمع متباکي-
متبال:(مه-تبال)اسم- جمع- مذکر- چاټوان- چړی- توري-
متبائي:(مه-تبا-ئي)اسم- مؤنث- خوږ څیز- شیریني- مختلف قسمه خوراږهٔ چې د حلوايانو په دوکانونو کښې جوړولے شي- (م- هندي)-
مټ تړ:(مټ-تړ)اسم- واحد- مذکر- تعویذ چې په مټ تړلے شي- مټ تړونے-
مټ تړونے:(مټ-تَه-ړو-نے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ مټ تړ-
متېخ:(مه-تېخ)اسم- واحد- مذکر- یو ځرنګے ملخ- متېخ-
متر:(مه-تر)اسم- واحد جمع- مذکر- (۱)یو قسم سبزي چې په پلو کښې ې داني زي اوم او پوخ دواړه حالتو کښې خوړے شي- نباتاتي نوم پیسم سے تي وم PISUM SATIVUM- (۲)یو رنګ چنه چې زیړه وي-
متره:(مت-ره)اسم- واحد- مؤنث- میره- وګورئ خنبل-
متک:(مه-تک)اسم- واحد- مذکر- (۱)غوزه- اکوړ- نباتاتي نوم جګلېنز ریجیا JUGLANS REGIA- (۲)ناز نخره- ادا- (م- هندي)-
متک:(مُ-تک)اسم- واحد- مذکر- مونک- موتے- جلق- د لاس په ذریعه منی دا حونه-
متکر:(مت-کر)صفت- غمزن- خفه- دلګیر-
متکر:(مه-تَه-کر)صفت- له وخته محکښې پوڅ شوے- پخنے- پخنوتے- (۲)هغه کس چې په کار ځان ماعرصه کړي-
متکرې:(مه-تَه-کرې)صفت- جمع- مؤنث- دَ جوارو هغه تیني چې په جیچلو کښې سختې زي-
متکه:(مت-که)اسم- واحد- مؤنث- مټ- چاټي- (م- هندي)-
متکی:(مت-کي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ پټکي هغه حصه چې په اوږو اوږانده وي- مچکی- (۲)ورکي-
متکي:(مُ-تَه-کي)اسم صفت- واحد- مذکر- موټک وهونکے- جلق وهونکے-
متکے:(مت-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)هغه کالے چې ښځې ې په مټ تړي- مازوبند- د مټ کالے- (۲)حم-

www.pukhto.net

متکل:(مت-کل)اسم- واحد- مذکر- د کشیده کارۍ کار چې په لستوڼو ماندي کولے شي-

متهملے:(مت-مه-لے)اسم- جمع- مذکر- د سرو د غوړوتو سره پرمیبودلی شوی :ست- دپ- خوبکړ-

مېن:(مه-ېن)صفت- لوېده او وچه رمکه- وېره-

مېنکے:(مه-ېنک-کے)صفت- وکوری سترک-

مېور:(مه-ېه-ور)صفت- مېي لرونکے- تکړه خاندان لرونکے- طاقتور-

مهوری:(مه-ېو-ری)اسم- واحد- مذکر- درپره- مټاکه- یو قسم دانه- مټوری-

مهوری:(مه-ېو-ری)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)وکوری مټوری- (۲)تناکه- (۳)مېخ- (۴)د مېوری مؤنث- وکوری مېورے-

مهورے:(مه-ېو-رے)صفت- نیمرکے- مدرے- عمرکے- جورے- پیېکے- د جینۍ او ورې ونې کشتن- مؤنث مهوری-

مېوکه:(مه-ېوک-که)صفت- مؤنث- د مېیزی لور- حرامنه-

مهونکے:(مه-ېونک-کے)صفت- د مېیزي حویٔ- ولدالزنا- حرامی- مهکے-

مته:(مه-ته)صفت- سخت- کامل- زور- سکاره- (ضدی- منتها)-

مته:(مه-ته)اسم- واحد- مؤنث- (۱)سې- (۲)زور- طاقت- (۳)حوم- خم- (۴)سرور-

مته:(مه-ته)اسم- واحد- مؤنث- (۱)نرمه او صفا خاوره- سلېښاکه خاوره- نرمه خټه- (۲)د کوټي ستن- غټه ستن- وکوری اروښج- (۳)د ونې تنه- (۴)زام- بورجی- (۵)د کمبلو ستن-

مته:(مت-ته)متعلق فعل- بالکل- مطلقاً (په " ورسره لګی -

متی:(مه-تی)اسم- واحد- مذکر- د څاروو یو قسم بیماری چې مثانه ی پکښې بېکاره شي- ترک-

مېنج:(مه-ېنج)صفت- زړه ور-

مېنج:(مه-ېنج)اسم- واحد- مذکر- وکوری مټځ-

مېبر:(مه-ېبر)اسم- واحد- مذکر- چېر چار- حمله-

مهېران:(مه-ېي-ران)اسم- واحد- مذکر- شراب خانه- مېکده- خم خانه- مخانه-

مټیر:(مه-ټیز)صفت- په ناجائز کار یسي له کوره تښتېدلے- مټیزک- مؤنث مټیره-

مټیرتوب:(مه-ټیر-توب)اسم- واحد- مذکر- د مټیز یا مټېره کېدو حالت- بې حیائی- مټیزوالے- مټیزتیب-

مټیزتیا:(مه-ټیز-تیا)اسم- واحد- مؤنث وکوری مټیرتوب-

مټیزک:(مه-ټي-زک)صفت- وکوری مټیر-

مټیزکه:(مه-ټي-زک-که)صفت- مؤنث- مټیره- (حقارتاً)-

مټیزوالے:(مه-ټیز-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- وکوری مټیزتوب-

مټیره:(مه-ټي-زه)صفت- مؤنث- هغه بحه یا جینۍ چې د رشته دارو مه په پټه له پردی سړی سره له کوره رتښتی-

متین:(مه-تین)صفت- له متیني خاوري جوړ-

متینه:(مه-تي-نه)صفت- مؤنث- نرمه صفا او کړبه خاوره- مته خاوره- مټه-

متی:(مه-تی)اسم- واحد- مؤنث- وړوکے منګے-

متی:(مه-تی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د کنی مندونه چې پکښې سترکه یا تورک راحېزی- (۲)وکوری کړے-

متے:(م-تے)اسم- واحد- مذکر- وکوری موتے-

مثال:(م-ثال)اسم- واحد- مذکر- تصویر- صورت- نمونه- په رنګ- په شان- مثل- (م- عربی)-

مثانه:(مه-ثا-نه)اسم- واحد- مذکر- د متیازو ېوکنی- د ورو بولو خوږنی (بوحکی)- (م- عربی)-

مثبت:(مث-بت)صفت- (۱)ثابتونکے- تصدیق کونکے- (۲)د منفی ضد- (۳)د ګرامر، ریاضی، بجلی، او نورو علمونو یوه اصطلاح- (م- عربی)-

مثقال:(مث-قال)اسم- واحد- مذکر- (۱)څلورنیمي ماشې- د وزن یو مقدار- (۲)معمولی څیز- لږ وزن- لږ شے- (م- عربی)-

مثل:(مه-ثل)اسم- واحد- مذکر- متل- قول- حکایت- (م- عربی)-

مثلاً:(مه-ثه-لن)متعلق فعل- د مثال په ډول- لکه چې-

مثلث:(مث-لث)صفت- (۱)دري کنجیز- (جیومټیری)- (۲)د نظم هغه بند چې دري مصرعې لری- (م- عربی)-

مثله:(مث-له)اسم- واحد- مؤنث- د مړی غوږونه پوزه او نور اندامونه پرېکونه- (عربی)-

مثمر:(مث-مر)صفت- میوه ورکونکے- فائده من- (م- عربی)-

مثمن:(م-ثم-من)صفت- (۱)اته کنجیز- اته اړخیز- د اتو ضلعو شکل- (۲)قیمتی- (۳)د عروضو په اصطلاح کښې هغه وزن چې اته رکنونه ی وی- (م- عربی)-

مثنی:(م-ثن-نا)صفت- (۱)دوچنده- غبرګ- جوړه- (۲)د اصل مطابق نقل- دویم نقل-

مثنوی:(مث-نه-وی)اسم- واحد- مؤنث- هغه مسلسل نظم چې د هر شعر مصرې ي خان له قافیه لری- (م- عربی)-

مثیل:(مه-ثیل)صفت- نظیر- مشابه- په شان-

مجادله:(م-جا-د-له)اسم- واحد- مؤنث- جنګ حکړه- جنګ شور- بحث- منکامه- (م- عربی)-

مجاز:(م-جاز)صفت- (۱)اجازت ور کړے شوے- مختار- (۲)د حقیقت ضد- (م- عربی)-

مجازاً:(مه-جا-زن)متعلق فعل- د فرض په طور- فرض ي کړه- (م- عربی)-

مجازی:(مه-جا-زی)صفت- غیر حقیقي- فرضی- نقلی- غیر اصلی- مصنوعی- (م- عربی)-

مجال:(مه-جال)اسم- واحد- مؤنث- (۱)قدرت- طاقت- دخل- (۲)د چکر

زبر (ح-ـــط-ـوه)، زورکے (شل)، پېښ (تو-کا-وه)، رمر (ک ساب)، حزم (شکون)، ّ (ر و)، ٓ (پو-بسي-ده)

www.pukhto.net

ورکولو ځایٔ- (۲)فرصت- وخت- (م- عربي)-

محامعت:(م-حا-مه-مت)اسم- واحد- مذکر- کوروالے- هم بستری- جماع- صحت- (م- عربي)-

مجاور:(م-جا-ور)اسم- واحد- مذکر- (۱)ګاونډی- نژدې وسېدونکے- (۲)د يو زيارت يا دلبار ځایٔ جارو کوُنکے- مجور- (م- عربي)-

مجاهد:(م-جا-هد)صفت- کافرو سره جهاد کوُنکے- غازی- (م- عربي)-

مجاهده:(م-جا-هه-ده)اسم- واحد- مؤنث- نفس سره جهاد- محنت- رياضت- (م- عربي)-

مجاهدين:(م-جا-هه-دين)صفت- جمع- د مجاهد جمع- (م- عربي)-

مجبور:(مج-بور)صفت- بې وسه- بې کسه- غريب- مظلوم- درمانده- (م- عربي)-

مجبوراً:(مج-بو-رن)متعلق فعل- لهٔ بې اختياری نه- دٔ ناچاری نه- دٔ بې وسی نه- (م- عربي)-

مجبورتيا:(مج-بور-تيا)اسم- واحد- مؤنث- بې وسي- غريبي- جبر-

مجبوروالے:(مج-بور-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ مجبورتيا-

مجبورول:(مج-بو-ره-ول)مصدر متعدی- بې اختياره کول- بې وسه کول-

مجبورون:(مج-بو-ره-ون)حاصل مصدر- وګورئ مجبورول-

مجبورونکے:(مج-بو-ره-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مجبورونکی- مؤنث مجبورونکې- وګورئ مجبورول-

مجبورونګ:(مج-بو-ره-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ مجبورول-

مجبورونه:(مج-بو-ره-وو-نه)حاصل مصدر- وګورئ مجبورول-

مجبوری:(مج-بو-ري)اسم- واحد- مؤنث- بې وسي- غريبي- ناچاري- جبر-

مجبوريت:(مج-بو-ري-يت)اسم- واحد- مذکر- وګورئ مجبورتيا-

مجبورېدل:(مج-بو-رې-دل)مصدر لازم- بې اختياره کېدل- بې وسه کېدل- ناچاره کېدل-

مجبورېدن:(مج-بو-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ مجبورېدل-

مجبورېدنګ:(مج-بو-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ مجبورېدل-

مجبورېدنه:(مج-بو-رې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ مجبورېدل-

مجبورېدونکے:(مج-بو-رې-دوُن-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مجبورېدونکی- مؤنث مجبورېدونکې- وګورئ مجبورېدل-

مجبورېدهٔ:(مج-بو-رې-دهٔ)حاصل مصدر او دٔ ماضي استمراری دٔ واحد غائب صيغه- وګورئ مجبورېدل-

مجتنب:(مج-ته-نب)صفت- پرهېزګار- اجتناب کوُنکے- منع شوے- (عربي)-

مجتهد:(مج-ته-هد)صفت- (۱)اجتهاد کونکے- کوشش کونکے- (۲)ديني مشر- (۳)د شيعه ګانو پهٔ اصطلاح کښې هغه فقيه چې پکښې د قرآن سُنت اجماع او عقل پهٔ رڼا کښې دٔ استدلال کولو قوت وی- (م- عربي)-

مجدد:(م-جد-دد)صفت- نوے کونکے- تجديد کوُنکے- دٔ صدی پهٔ سر کښې پيدا کېدونکے دٔ مسلمانانو لویٔ عالم-

مجذوب:(مج-ذوب)صفت- د جذبې پهٔ حالت کښې- بې خوده- مست- بې هوشه- (عربي)-

مُجرا:(مج-را)اسم- واحد- مذکر- (۱)دٔ وماتو دٔ ګډا او سندرو محفل- (۲)تسليمات- آداب- (۳)موحره- حساب شوے- کټ شوے- (م- عربي)-

مجرب:(م-جر-رب)صفت- ازمائيلے شوے- تجربه شوے- موثر- (م- عربي)-

مجرد:(م-جر-رد)صفت- (۱)يواځې- ځان له- يو وزرے- (۲)ناواده کړے- لونډ سړے- (۳)هغه سړے چې ځان ئ ګوشه نشين کړے وی- (۴)مستند- (۵)لهٔ مادې نه پاک- غير مادی- تصوراتي- (م- عربي)-

مجردی:(م-جر-ر-دی)اسم- واحد- مؤنث- لونډتوب- ازادی- تنهائي- (م- عربي)-

مجرم:(مج-رم)صفت- جرم دار- ګناهګار- قصوروار- اوبالی- ګرم- خطاوار- (م- عربي)-

مجروح:(مج-روح)صفت- زخمي- ټپي- ژوبل- پرهارژلے- (م- عربي)-

مجرور:(مج-رور)صفت- (۱)راکښلے شوے- (۲)هغه لفظ چې حرف جار پرې راغلے وی- (ګرامر- عربي)-

مجره:(مج-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کاهکشان- کهکشان- (۲)تحفه- پالی- سوغات- مهرباني- کلنګ باز- (۳)دٔ پانس يو قسم- وګورئ مجرا-

مجستريټ:(مه-جس-ټرېټ)اسم- واحد- مذکر- دٔ فوجداری حاکم- مجرمانو ته د سزا ورکولو بااختياره حاکم- (م- انګريزی)-

مجسم:(م-جس-سم)صفت- (۱)بدن لرونکے- جسم لرونکے- (۲)ټول- (۳)پلن- (عربي)-

مجسمه:(م-جس-سه-مه)اسم- واحد- مؤنث- بُت- (م- عربي)-

مجلد:(م-جل-لد)صفت- جلد شوے- هغه کتاب چې ټاٌ زرته لګېدلې وی-

مجلس:(مج-لس)اسم- (۱)د کښېناستو ځایٔ- محفل- صحبت- هېرې اترې- ګپ شپ- (۲)ټنګ ټکور-

مجلسي:(مج-لي-سي)اسم- واحد- مذکر- (۱)پهٔ مجلس کښې شريک- (۲)سندرغاړے- جمع مجلسيان-

مجله:(م-جل-له)اسم- واحد- مؤنث- رساله- مېګزين- (م- عربي)-

مجمر:(مج-مر)اسم- واحد- مذکر- انګيټی چې سپېلنی يا بل څهٔ داسې څيز پکښې لوګولے شي- منقل- (م- عربي)-

مجمع:(مج-مع)اسم- واحد- مذکر- (۱)ګڼه ګونه- مجلس- ډېر خلق- (۲)دٔ خلقو دٔ راغونډېدو ځایٔ-

مجمعه:(مج-مه-عه-مج-مه)اسم- واحد- مؤنث- مجمه- غوری- يو سلوری لوښے چې عموماً پکښې وريژې پهٔ ودونو کښې اېښودے شي-

مجمل:(مج-مل)صفت- (۱)مختصر- لږ- لنډ- خلاصه- (۲)غير واضحه- چې پهٔ تفصيل نهٔ وی- مبهم- (م- عربي)-

مجملاً:(مج-مه-لن)متعلق فعل- پهٔ لنډه- مختصراً-

مجموعه:(مج-مو-عه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)جمع کړے شوے-

ی: (ښی-ړل)، ي: (مې-ره-ول)، ې: (پيا-لې)، ے: (ټن-ډے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

(۲)جمع- راجمع کړې شیرونه- (۳)د شاعرۍ، نثر یا نورو مضمونونو راجمع کړے شوے کتاب، رساله- (م- عربي)-
مجموعي:(مج-مو-عي)صفت- ټول- سراسر- کلهم- همګی- تمامي-
مجمه:(مَج-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مجمعه- غړی- غړے- (۲)پیانګ- تال- مسین یا سلوری ښانګ-
مجن:(مه-جن)اسم- واحد- مذکر- لیندہ- لیندۍ-
مجنون:(مج-نُون)صفت- (۱)لیونے- دیوانه- پاګل- (۲)عاشق- شیدا- مئین- (م- عربي)-
مجوزه:(م-جو-وه-زه)صفت- تجویز کړے شوے- پیش کړے شوے- مقرر کړے شوے- (م- عربي)-
مجوسي:(مه-جو-سي)اسم- واحد- مذکر- فارسي مذهب لرونکے- اتش پرست- (م- عربي- مجوس)-
مجهول:(مَج-هُول)صفت- (۱)نامعلوم- پټ- (۲)هغه فعل چې فاعل ئې معلوم نهٔ وي- (۳)د همه " واؤ " او " ی " موم چې پهٔ " تور " او " جمش " کښې استعمالیږي- (م- عربي)-
مخدک:(مخ-دک)اسم- واحد- مذکر- مسجد- جمات- جمیت- د جمعې د مونځ ځای-
مخکنے:(مخ-کم-نے)صفت- د زمکې سره متعلق- (افغانستان)-
مخکوال:(مخ-کم-وال)اسم- واحد- مذکر- دٔ زمکې خاوند- زمیندار- (افغانستان)-
مخکه:(مَخ-که)اسم- واحد- مؤنث- زمکه- (ش- سنسکرت)-
مخکړے:(مخ-کړے)صفت- واحد- مذکر- ژرندہ کړے-
مچ:(مچ)اسم- واحد- مذکر- (۱)یو وزر لرونکے چینجے- (خصوصاً د بهترا د قسم) مکس- (۲)زړے- بودان- غنې-
مچ:(مچ)اسم- واحد- مؤنث- تینډک- بغره-
مچان:(مه-چان)اسم- واحد- مذکر- (۱)مورکه- پوړ- کښوه- موړه- (۲)د زمرو دٔ ښکار دٔ پاره پهٔ ونه کښې جوړ کړے شوے ؤخت ځاۍ- جونګړه- منا-
مچ بنک:(مچ-به-نک)اسم- واحد- مذکر- د مچانو شړلو پکے- بېوزې- مچشړ- مچشړونے- مچ غړینے- مچواړے-
مچهرانګ:(مچ-هرانګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)غټ مچ- (۲)جولا- غنے-
مچخ:(مه-چخ)اسم- واحد- مذکر- ملخ- یوه حشره-
مچخړے:(مچ-خڼ-ړے)اسم- واحد- مذکر- دٔ مچانو الګی-
مچر:(مه-چر)اسم- واحد- مذکر- د وني کچه ځانګه-
مچرداني:(مه-چر-دا-ني)اسم- واحد جمع- مؤنث- د ماشو نه د ځان بچ کولو د تارونو نه جوړه جالۍ چې د کټ دٔ پاسه لګولے شي-
مچرکے:(مه-چر-کے)اسم- واحد- مؤنث- زچوکے- وچ کړس- کمزورے-
مچشړ:(مچ-شړ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ: مچ بنک-

مچ شړونے:(مچ-شه-ړو-نے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ: مچ بنک-
مچ غړینے:(مچ-غه-ړي-نے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ: مچ بنک-
مچغو:(مچ-غُ-نو)اسم- واحد- مذکر- وګورئ: مچغنه-
مچغنه:(مه-چَغ-نه)اسم- واحد- مؤنث- دٔ تارونو نه جوړه یوه آله چې دٔ مټ پهٔ زور پکښې کاڼي لرې ویشتے شي- مچغنه- مچغونه- مچلوغزه- مچلوغی- مچنوغزه- مچغنو- مچوغنه- مچوغنده-
مچغنه:(مه-چغ-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: مچغنه-
مچغونه:(مچ-غو-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: مچغنه-
مچک:(مه-چک)اسم- واحد- مذکر- (۱)وګورئ: مسور- (۲)کونتي- اړامکے- کنډه-
مچکه:(مه-چه-که)اسم- واحد- مؤنث- پیپه- پپی- مچه- کوکی-
مچکېره:(مَچ-کې-ره)اسم- واحد- مؤنث- دٔ شاتو مَچې-
مچکی:(مچ-کی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: مچی- مچکېره-
مچکے:(مچ-کے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم ټوپک- (افغانستان)-
مچکیرک:(مَچ-کې-رک)اسم- واحد- مذکر- جولا- غنے-
مچلک:(مچ-لک)اسم- واحد- مذکر- دٔ مَچغنې دٔ رسۍ (لړ) نرے سر-
مچلکا:(مُچ-لَ-کا)اسم- واحد- مذکر- مچلکا- مچلکه- موچلکا- ضمانت- اقرار نامه- لوظ نامه- د اطلاع ورکولو کاغذ- سمن- خبرداریے-
مچلکه:(مُچ-ل-که)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: مچلکا-
مچلوغزه:(مَچ-لوغ-زه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: مچغنه-
مچلوغی:(مچ-لو-غی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: مچغنه-
مچله:(مچ-له)صفت- ټوکمار- ټوقی- ټوقي کونکے-
مچلي:(مچ-لي)اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)دٔ غوږونو یو کالے- دٔ غوږونو بسول- (۲)ګوشواره-
مچمچی:(مَچ-مه-چی)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: مچی-
مچنوغزه:(مَچ-نوغ-زه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: مچغنه-
مچنه:(مه-چَنه)اسم- واحد- مؤنث- پنیه- کبلی-
مچو:(مه-چو)اسم- واحد- مذکر- (۱)مچی- (۲)پپه- کوکی- (م- فارسي- ماچ)-
مچواړے:(مچ-وا-ړے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ: مچ بنک-
مچوری:(مه-چو-ړی)صفت- تاو راتاؤ- غوټې موټې- چونې مچونې-
مچوغنده:(مه-چو-غن-ده)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: مچغنه-
مچوغنه:(مه-چوغ-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وګورئ: مَچغنه- (۲)تنګ رهنه- تک رهنه- ورتنګ رهنه-
مچول:(م-چه-ول)مصدر متعدي- ښکلول- کوکې اخستل- پپې اخستل- ځله اخستل- (م- فارسي- ماچ)-
مچون:(م-چه-ون)حاصل مصدر- وګورئ: مچول-
مچونکے:(م-چه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مچونکي- مؤنث

زبر "(ځ-بېـ-ره)"، "زور کے"(شل)، "پېش"(ئو-کا-ره)، زبر (ک-تاب)، جزم "(شکوې)"، "ة"(و-ړه)، "ة"(یو-سي-ده)

www.pukhto.net

مچونکې- وګورئ مچول-

مچونګ:[م-چه-ونګ]حاصل مصدر- وګورئ مچول-

مچونه:[م-چه-وَنه]حاصل مصدر- وګورئ مچول-

مچونې:[مه-چو-نې]اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ موګړے-

مچوے:[م-چه-وو-نے]اسم صفت- بوسه ګیر- مچه اخستونکے- کوکې اخستونکے-

مچونی:[مه-چو-نې]صفت- رانغاړلے شوے-

مچه:[م-چه]اسم- واحد- مؤنث- کوکې- چهې- چپې- پپې- خله اخستنه- چپ- بوسه- پپه-

مچی پرانګ:[مه-چي-پړ-انګ]اسم- واحد- مذکر- چولاګے- عبے- مچی پرونګ-

مچی پرونګ:[مه-چي-پړونګ]اسم- واحد- مذکر- وګورئ مچی پرانګ-

مچی مار:[مه-چي-مار]اسم- واحد- مذکر- مچیان نیونکے- کمان نیونکے-

مچی:[مه-چي]اسم- واحد جمع- مؤنث- (۱)ممبره- ومبره- ببواره- مچمچی- مچکی- مرچی- غومبسه- غومبسکه- یو الوتونکے چینجے چی په لشه کښي ئې زهر وی- (۲)د شاتو مچی-

مګرغ:[مَغ-رغ]اسم- واحد- مذکر- یو قسم وابنه چې عموماً اوبان ئې خوری-

مګرک:[مَغ-رک]اسم- واحد- مذکر- کربوړے- چمچورکه-

مګله:[مَغ-له]اسم- واحد- مؤنث- د نوک شا ته غوښه- اوری- کېری- جمع مګلې-

مګوکه:[مه-ګو-کَه]اسم- واحد- مذکر- (۱)د اُوس بچے- کبلے- (۲)هر ښکلے څیز- (۳)وړوکے حیوان- وړوکے شے- (کاکړ)-

مګوکے:[مه-ګوڅ-کے]اسم- واحد- مذکر- د زیړ رنګ لرونکې یو قسم ګیاه چې په دارو کښې پکارولے شي-

مجاذ:[مه-جاذ]اسم- واحد- مذکر- (۱)د جنګ میدان- سنګر- (۲)صفت- مخامخ- مقابل- (م- عربی)-

محاسب:[م-حا-سب]اسم- واحد- مذکر- حساب کونکے- حساب کتاب کونکے- شمیرونکے- (م- عربی)-

محاسبه:[م-حا-سه-به]اسم- واحد- مؤنث- حساب کتاب کونه- حساب غسه- (م- عربی)-

محاسن:[مه-حا-سن]اسم- جمع- مذکر- حسنونه- خوبی- نیکی- فائدې- خصوصیات- (م- عربی)-

محاصره:[م-حا-صه-ره]اسم- واحد- مؤنث- ګېره- د څلورو اړخو نه راتاوېدنه- ګېر چاپېره محې ښنډونه-

محافظ:[م-حا-فظ]اسم- واحد- مذکر- حفاظت کونکے- ساتندوے- نګران- پېره دار-

محاکات:[مه-حا-کات]اسم- (۱)ښېښو کښې خبرې لترې کونه- (۲)یو بل سره لندبه کښه- (۳)د چا د خبرو یا کار پېښې کونه-

محاکمه:[مه-حا-کمه-مه]اسم- واحد- مؤنث- فیصلې د پاره پېش کول- (م- عربی)-

محال:[م-حال]صفت- ناممکن- ګران- مشکل- (م- عربی)-

محال:[مه-حال]اسم- علاقه- زمکه- (م- عربی)-

محاوره:[م-حا-وه-ره]اسم- واحد- مذکر- هغه خبره چې کونکے ئې د لغوی معنې په مناسبت یو خاص مفهوم د پاره استعمالوی- خبرې اترې- (م- عربی)-

محب:[م-حب]صفت- محبت کونکے- مینه لرونکے- دوست- (م- عربی)-

محبانه:[م-حب-با-نه]مطلق فعل- د دوستی په رنګ-

محبت:[م-حب-بت]اسم- واحد- مذکر- مینه- اخلاص- دوستی- عشق- تعلق- (م- عربی)-

محبس:[مح-بس]اسم- واحد- مذکر- جېل خانه- قیدخانه- بندی خانه- زندان- (م- عربی)-

محبوب:[مح-بوب]اسم- واحد- مذکر- خوږ- ګران- دلدار- دوست- معشوق- ښکلے- (م- عربی)-

محبوبا:[مح-بو-با]اسم- واحد- مؤنث- معشوقه- محبوبه-

محبوبیت:[مح-بو-بي-يت]اسم- واحد- مذکر- د محبوب کېدو حالت-

محبوس:[مح-بوس]صفت- په قید کښې ساتلے شوے- بندی- قیدی- (م- عربی)-

محبوسول:[مَح-بو-سه-وَل]مصدر متعدی- قیدی کول- بندی کول- قیدول-

محبوسون:[مَح-بو-سه-وَن]حاصل مصدر- وګورئ محبوسول-

محبوسونکے:[مَح-بو-سه-وون-کے]اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع محبوسونکی- مؤنث محبوسونکې- وګورئ محبوسول-

محبوسونګ:[مح-بو-سه-ونګ]حاصل مصدر- وګورئ محبوسول-

محبوسونه:[مح-بو-سه-وَنه]حاصل مصدر- وګورئ محبوسول-

محبوسېدل:[مَح-بو-سې-دل]مصدر لازم- قید کېدل- بندېدل- قیدېدل-

محبوسېدن:[مَح-بو-سې-دن]حاصل مصدر- وګورئ محبوسېدل-

محبوسېدنه:[مَح-بو-سې-دَنه]حاصل مصدر- وګورئ محبوسېدل-

محبوسېدونکے:[مَح-بو-سې-دون-کے]اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع محبوسېدونکی- مؤنث محبوسېدونکې- وګورئ محبوسېدل-

محبوسېده:[مح-بو-سې-دَه]حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ محبوسېدل-

محتاج:[مح-تاج]صفت- ضرورت مند- حاجتمند- پامته دار- غریب- بې وسه- موتاژ- (عربی)-

محتاجول:[مَح-تا-جه-وَل]مصدر متعدی- حاجتمند جوړول-

محتاجون:[مَح-تا-جه-وَن]حاصل مصدر- وګورئ محتاجول-

محتاجونکے:[مَح-تا-جه-وون-کے]اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع محتاجونکی- مؤنث محتاجونکې- وګورئ محتاجول-

ی (څې-ول)، ي (مې-ره-ول)، ۍ (ښځا-ينه)، ئ (فن-مې-ر) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

محتاجونک:(مَح-تا-جه-ونک)حاصل مصدر- وګوری: محتاجول-

محتاجونه:(مَح-تا-جه-وڼه)حاصل مصدر- وګوری: محتاجول-

محتاجي:(مُح-تا-جي)اسم- واحد- مؤنث- بې وسی- موتاژی- ضرورت-

محتاجېدل:(مُح-تا-جې-دَل)مصدرِ لازم- حاجتمند کېدل-

محتاجېدن:(مُح-تا-جې-دَن)حاصلِ مصدر- وګوری: محتاجېدل-

محتاجېدنګ:(مُح-تا-جې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګوری: محتاجېدل-

محتاجېدنه:(مُح-تا-جې-دَڼه)حاصلِ مصدر- وګوری: محتاجېدل-

محتاجېدونکے:(مُح-تا-جې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع محتاجېدونکی- مؤنث محتاجېدونکې- وګوری: محتاجېدل-

محتاجېدهٔ:(مُح-تا-جې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګوری: محتاجېدل-

محتاط:(مُح-تاط)صفت- احتیاط کوُنکے- هوښیار- (م- عربی)-

محترم:(مُح-تَه-رم)صفت- عزتمند- عزتمن- معزز- لوئ- دَ احترام وړ- (م- عربی)-

محتسب:(مُح-تَه-سب)اسم- واحد- مذکر- حساب اخستونکے- حساب کتاب کوُنکے- محاسبه کوُنکے- حاکم- کوتوال- (م- عربی)-

محجوب:(مُح-جُوب)متعلق فعل/صفت- (۱)پهٔ پرده کښې- پټ- (۲)شرمنده- (م- عربی)-

محدود:(مح-دُود)صفت- پهٔ حد کښې راګېر- معلوم حد لرونکے- (م- عربی)-

محراب:(مح-راب)اسم- واحد- مذکر- (۱)جُومات کښې هغه ځایٔ چې امام صیب پکښې نمانځهٔ ته ودرېږی- (۲)ټاټ- (۳)وسله- سيخ- (م- عربی)-

محرر:(مُ-حَر-رر)اسم- واحد- مذکر- لیکونکے- منشی- کاتب- (عربی)-

محرک:(مُ-حَر-رِک)صفت- حرکت ورکوُنکے- تحریک پیدا کوُنکے- (م- عربی)-

محرم:(مح-رم)صفت- (۱)داسې رشته دار چې نکاح ورسره جائز نهٔ وی- هغه سړے چې پرده ترې نهٔ کیږی- (۲)واقف- خبردار-

محرم:(مُ-حَ-رَم)صفت- (۱)حرام کړے شوے- منع کړے شوے- (۲)اسم- واحد- مذکر- دَ اسلامی کال وروُمبی میاشت-

محرم:(مُح-رِم)صفت- احرام تړونکے-

محرمات:(مُ-حَر-رَ-مات)اسم- جمع- مذکر- منع کړے شوی څیزونه- حرام کړے شوی څیزونه-

محروم:(مَح-رُوم)صفت- حرام کړے شوے- منع کړے شوے- ناکام- بې نوا- بې نصیبه- مایوسه- نااُمیده- (م- عربی)-

محرومول:(مَح-رُو-مه-وَل)مصدرِ متعدی- مایوسه کول- ناکامه کول- نااُمیده کول-

محرومون:(مَح-رُو-مه-وَن)حاصل مصدر- وګوری: محرومول-

محرومونکے:(مَح-رُو-مه-وُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع محرومونکی- مؤنث محرومونکې- وګوری: محرومول-

محرومونګ:(مَح-رُو-مه-وَنګ)حاصل مصدر- وګوری: محرومول-

محرومونه:(مَح-رُو-مه-وڼه)حاصلِ مصدر- وګوری: محرومول-

محرومهٔ:(مَح-رُو-مه-وهٔ)حاصلِ مصدر- وګوری: محرومول-

محرومی:(مَح-رُو-مي)اسم- واحد- مذکر- مایوسی- نااُمېدی- (م- عربی)-

محرومېدل:(مَح-رُو-مې-دَل)مصدرِ لازم- نااُمېده کېدل- ناکامه کېدل- بې نوا کېدل- مایوسه کېدل-

محرومېدن:(مَح-رُو-مې-دَن)حاصلِ مصدر- وګوری: محرومېدل-

محرومېدنګ:(مَح-رُو-مې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګوری: محرومېدل-

محرومېدنه:(مَح-رُو-مې-دَڼه)حاصلِ مصدر- وګوری: محرومېدل-

محرومېدونکے:(مَح-رُو-مې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع محرومېدونکی- مؤنث محرومېدونکې- وګوری: محرومېدل-

محرومېدهٔ:(مَح-رُو-مې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګوری: محرومېدل-

محزون:(مَح-زُون)صفت- خفه- زهیر- غمګین- غمژن- پرېشان- مغموم- (م- عربی)-

محسن:(مُح-سِن)صفت احسان کوُنکے- نېکی کوُنکے- ښهٔ سلوک کوُنکے- سخی- مددګار- (م- عربی)-

محسوب:(مَح-سُوب)صفت- حساب کړے شوے- شمارلے شوے- (م- عربی)-

محسوبول:(مَح-سُو-به-وَل)مصدر متعدی- پهٔ حساب کښې راوستل-

محسوبون:(مَح-سُو-به-وَن)حاصل مصدر- وګوری: محسوبول-

محسوبونکے:(مَح-سُو-به-وُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع محسوبونکی- مؤنث محسوبونکې- وګوری: محسوبول-

محسوبونګ:(مَح-سُو-به-وَنګ)حاصلِ مصدر- وګوری: محسوبول-

محسوبونه:(مَح-سُو-به-وڼه)حاصلِ مصدر- وګوری: محسوبول-

محسوبوهٔ:(مَح-سُو-به-وهٔ)حاصلِ مصدر- وګوری: محسوبول-

محسوبېدل:(مَح-سُو-بې-دَل)مصدرِ لازم- حساب کښې راتلل-

محسوبېدن:(مَح-سُو-بې-دَن)حاصلِ مصدر- وګوری: محسوبېدل-

محسوبېدنګ:(مَح-سُو-بې-دَنګ)حاصلِ مصدر- وګوری: محسوبېدل-

محسوبېدنه:(مَح-سُو-بې-دَڼه)حاصلِ مصدر- وګوری: محسوبېدل-

محسوبېدونکے:(مَح-سُو-بې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع محسوبېدونکی- مؤنث محسوبېدونکې- وګوری: محسوبېدل-

محسوبېدهٔ:(مَح-سُو-بې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګوری: محسوبېدل-

محسود:(مَح-سُود)صفت- چا سره چې حسد کړے شوے وی- چې کینه ور سره ساتلے شی- (م- عربی)-

محسوس:(مَح-سُوس)اسم- هغه څیز چې دَ حَواسو پهٔ ذریعه معلوم کړے شی- (م- عربی)-

محسوسات:(مَح-سُو-سات)اسم- جمع- مذکر- هغه څیزونه چې محسوسېدے شی-

"زېر"(خ-بېږ-ره)، "زورکے"(شل)، "پېش"(نو-کا-ره)، "زبر"(ک-تاب)، "جزم"(شکون)، "هٔ"(ز-ړه)، "ۀ"(پو-ښې-دهٔ)

www pukhto net

محسوسول:(مَح-سُو-سه-ول)مصدر متعدي- دُ حواسو پهٔ ذريعه معلومول-
محسوسون:(مَح-سُو-سه-وَن)حاصل مصدر- وګورئ محسوسول-
محسوسونکے:(مَح-سُو-سه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع محسوسونکي- مؤنث محسوسونکې- وګورئ محسوسول-
محسوسونګ:(مَح-سُو-سه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ محسوسول-
محسوسونه:(مَح-سُو-سه-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ محسوسول-
محسوسوهٔ:(مَح-سُو-سه-وهٔ)حاصل مصدر- وګورئ محسوسول-
محسوسېدل:(مَح-سُو-سې-دَل)مصدر لازم- دُ حواسو پهٔ ذريعه معلومېدل- محسوس کېدل-
محسوسېدن:(مَح-سُو-سې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ محسوسېدل-
محسوسېدنګ:(مَح-سُو-سې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ محسوسېدل-
محسوسېدنه:(مَح-سُو-سې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ محسوسېدل-
محسوسېدونکے:(مَح-سُو-سې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع محسوسېدونکي- مؤنث محسوسېدونکې- وګورئ محسوسېدل-
محسوسېدهٔ:(مَح-سُو-سې-دهٔ)حاصل مصدر او دُ ماضي استمراري دُ واحد غائب صيغه- وګورئ محسوسېدل-
محشر:(مَح-شَر)اسم- واحد- مذکر- دَ حساب کتاب ورځ- قيامت-
محصل:(مُ-حَص-صِل)صفت- محصول اخستونکے- وصولونکے- ټېکس جمع کونکے- وګورئ ماسل-
محصن:(مُ-حَص-صن)صفت- (۱)پرهېزګار- پاکباز- (۲)واده کړے- مؤنث محصنه- (م- عربي)-
محصنه:(م-حص-صن-نه)صفت- مؤنث- وګورئ محصن- (م- عربي)-
محصور:(مَح-صُور)صفت- قلعه بند- دُ دېوال دننه کېر- ايسار- (م- عربي)-
محصول:(مَح-صُول)اسم- واحد- مذکر- چونګے- ټېکس- خراج- کرايه- (عربي)-
محصولچي:(مَح-صُول-چي)اسم- واحد- مذکر- محصول اخستونکے-
محض:(مَه-حَض)صفت- صرف- فقط- (م- عربي)-
محضر:(مَح-ضَر)اسم- واحد- مذکر- (۱)دُ حاضرېدو ځاي- (۲)هغه کاغذ چې دُ قاضي مهر پرې لګېدلے وي- جمع محضرونه- (م- عربي)-
محظوظ:(مَح-ظُوظ)صفت- خوشحاله- مسرور- چې لطف يې اخستے وي- (م- عربي)-
محفل:(مَح-فَل)اسم- واحد- مذکر- مجلس- ميلمن- ميلس- مېلس- حجره- غونډه- ټولنه- (م- عربي)-
محفوظ:(مَح-فُوظ)صفت- (۱)اماني سلامت- ژغورلے- ساتلے- (۲)ياد کړے شوے- حفظ کړے شوے- (عربي)-
محقق:(مُ-حَق-قِق)صفت- تحقيق کونکے- څېړنه کونکے- جمع محققين- (عربي)-
محققانه:(مُ-حَق-قِ-قا-نه)متعلق فعل صفت- دَ څېړنې سره- دُ تحقيق سره- دُ تحقيق او تصديق لهٔ مخې-
محک:(مه-حَک)اسم- واحد- مذکر- هغه تور کاڼے چې دُ زرو کره کوټه پرې معلومولے شي- زرکاڼے- (م- عربي)-
محکم:(مَح-کَم)صفت- مضبوط- کلک- پوخ- ټينګ- پائېدار- (م- عربي)-
محکمات:(مَح-کَه-مات)اسم- جمع- مؤنث- دُ قرآن پاک هغه آيتونه چې معنی يې واضحه دي- دَ متشابهات ضد-
محکمتيا:(مَح-کَم-تيا)اسم- واحد- مؤنث- مضبوطوالے- استقامت- مضبوطي- محکموالے-
محکموالے:(مَح-کَم-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ محکمتيا-
محکمه:(مَح-کَه-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دُ حکم ورکولو ځاي- اداره- (۲)عدالت- جمع محکمې- (م- عربي)-
محکوم:(مَح-کُوم)صفت- د حکم لاندې- ماتحت- تابع- (م- عربي)-
محل:(مه-حَل)اسم- واحد- مذکر- (۱)ماڼي- کور- لوئ مکان- (۲)وخت- موقع- مال- (م- عربي)-
محلت:(مَح-لَت)اسم- واحد- مذکر- دَ کلي يوه برخه- مالت- چم- ګاونډ- پلو- کندے- محله- (م- عربي)-
محلسرا:(مه-حَل-سه-را)اسم- واحد- مذکر- هغه محل چې پکښې دُ بادشاه بېګماتې رسي- دُ بادشاه زنانخانه- شاهي ماڼۍ-
محلوج:(مَح-لُوج)صفت مفعول- رېشلے شوے مالوچ- (م- عربي)-
محلول:(مَح-لُول)صفت- حل شوے- هغه څيز چې پهٔ اُبو کښې حل شي- اُبهٔ کړے شوے- (م- عربي)-
محله:(مه-حل-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ محلت- (م- عربي)-
محله دار:(مه-حل-له-دار)اسم- واحد- مذکر- (۱)پهٔ محلت کښې وسېدونکے- (۲)دُ محلت مشر-
محمد:(مُ-حَم-مَد)صفت- (۱)تعريف کړے شوے- ستائيلے شوے- (۲)پېغمبر اسلام- دُ الله تعالی هغه نبي چې اخري الهامي کتاب قرآن شريف پرې نازل شوے دے- انبياؤ کښې اخري نبي چې عربو کښې پهٔ قريش خاندان کښې پهٔ ۵۷۱ عيسوی- عام الفيل کښې پيدا شوے وهٔ-
محمدي:(مُ-حَم-مه-دي)صفت- حضور پاک سره نسبت لرونکے- مسلمان-
محمل:(مَح-مِل)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم ډولۍ چې د اوښ پهٔ شا اچولے شي- کجاوه- کحاوه- (م- عربي)-
محمود:(مَح-مُود)صفت- (۱)تعريف کړے شوے- ستائيلے شوے- (۲)دُ الله تعالی او دُ حضرت محمد صلی الله عليه وآله وسلم يو صفتي نوم-
محن:(م-حَن)اسم- واحد- مذکر- د محنت جمع- مصيبتونه-
محنت:(مح-نَت)اسم- واحد- مذکر- خواري- مشقت- تکليف- مزدوري- (عربي)-
محنت کش:(مح-نَت-کَش)صفت- خواري کښ- مزدور- محنتي- محنت کونکے- خواري کونکے-

ئ (ښې-رل) ، ئ (هې-ره-ول) ، ئ (پېدا-لې) ، ے (تن-دېږ) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

محنتي:(مح-نه-تي)صفت- وګورئ محنت کش-

محو:(مح-وه)صفت- (۱)وران- وران شوے- (۲)فکرمند- (عربي)-

محور:(مح-ور)اسم- واحد- مذکر- (۱)مرکز- دړه-

محوري:(مح-وه-ري)اسم- په دويم جنګ عظيم کښې د نازي جرمني او فسطائي اټلي او جاپان حکومتونه-

محويت:(مح-وي-يت)اسم- واحد- مذکر- د محو کېدو حالت- په خيال کښې ورک- په تصور کښې ډوب- (عربي)-

مخ:(مخ/مخ)اسم- واحد- مذکر- د شا ضد- ګېره- بشره- شکل- موشامه- يارخو- مخه- (۲)ستر- (۳)لحاظ- خاطر- عزت- وقار- (۴)موجودګي- وړاندې- (۵)د توري خله- (۲)احسان-

مخاسته:(مُ-خا-س-ته)اسم- واحد- مؤنث- د قدم نښه- چاپه- خاپ- خاپے- منډ-

مخاصم:(مُ-خا-صم)صفت- دشمن- دښمن- ميرګمن- مخالف- (عربي)-

مخاصمانه:(مُ-خا-ص-ما-نه)متعلق فعل- د دښمنۍ په ډول- په دشمنۍ سره-

مخاصمت:(مُ-خا-صه-مت)اسم- واحد- مذکر- دشمني- دښمني- ميرګي- مخالفت- تربګني- بغض- کينه- (م- عربي)-

مخاطب:(مُ-خا-طب)صفت- چا ته مخامخ خبرې کونکے- خطاب کونکے- مخامخ- (م- عربي)-

مخاطب:(مُ-خا-طب)صفت- چا ته چې خبره کيږي- خطاب شوے-

مخاطبه:(مُ-خا-طه-به)اسم- واحد- مؤنث- خپلو کښې خبرې کول- يو بل ته مخامخ خبرې کول-

مخالفت:(مُ-خا-لِ-فت)اسم- واحد- مذکر- دشمني- دښمني- تربګني- ضد- بدي- عداوت-

مخامخ:(مه-خا-مخ)صفت/متعلق فعل- مخ په مخ- نيغ په نيغه- روبرو-

مخامخول:(مه-خا-مه-خه-ول)مصدر متعدي- يو بل ته پېش کول- روبرو کول- مخامخ کول-

مخامخې:(مه-خا-مه-خې)صفت/متعلق فعل- مخ په مخ-

مخامخېدل:(مه-خا-مه-خې-دل)مصدر لازم- يو بل ته پېش کېدل- مخامخ کېدل- روبرو کېدل-

مخاوريز:(مه-خاو-ريز)صفت- مشهور- مشر- سردار- مخور- مخوريز- مخاوے- لحاظ کونکے- خاطر کونکے-

مخاوے:(مه-خا-وے)صفت- وګورئ مخاوريز-

مخاويتوب:(مه-خا-وي-توب)اسم- دبدبه- عزت- اثر رسوخ-

مخبر:(مخ-بِر)اسم- واحد- مذکر- خبر ورکونکے- جاسوس- سارے- سراغرسان-

مخبري:(مخ-بِ-ري)اسم- واحد- مؤنث- جاسوسي- سراغرساني-

مخبوط:(مخ-بُوط)صفت- پاګل- لېونے- سودائي- ديوانه-

مخ پټے:(مخ-پَه-ټے)اسم- واحد- مذکر- برقعه- نقاب- پړونے- (افغانستان)-

مخ په کوزه:(مخ-په-کو-زه)متعلق فعل- مخ په ښکته- مخ په لاندې-

مخ په مخ:(مخ-په-مخ)متعلق فعل- روبرو- نيغ په نيغه- مخامخ- د يو بل وړاندې- لاس په لاس-

مختار:(مُخ-تار)صفت- اختيارمن- خپلواکه- واکمن- مجاز- وکيل- ازاد- (عربي)-

مختارول:(مُخ-تا-ره-ول)مصدر متعدي- اختيارمن جوړول- ازادول-

مختارون:(مُخ-تا-ره-ون)حاصل مصدر- وګورئ مختارول-

مختارونکے:(مُخ-تا-ره-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مختارونکي- مؤنث مختارونکې- وګورئ مختارول-

مختارونګ:(مُخ-تا-ره-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ مختارول-

مختارونه:(مُخ-تا-ره-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ مختارول-

مختاروه:(مُخ-تا-ره-وه)حاصل مصدر- وګورئ مختارول-

مختاري:(مُخ-تا-ري)اسم- واحد- مؤنث- اختيارمندي- ازادي- سربراهي-

مختارېدل:(مُخ-تا-رې-دل)مصدر لازم- اختيارمن جوړېدل- ازادېدل-

مختارېدن:(مُخ-تا-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ مختارېدل-

مختارېدنګ:(مُخ-تا-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ مختارېدل-

مختارېدنه:(مُخ-تا-رې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ مختارېدل-

مختارېدونکے:(مُخ-تا-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مختارېدونکي- مؤنث مختارېدونکې- وګورئ مختارېدل-

مختارېده:(مُخ-تا-رې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ مختارېدل-

مختاړے:(مُخ-تا-ړے)اسم- واحد- مذکر- مخکښې- وړاندې- د روستاړے ضد- سابقه- جمع مختاړي-

مختص:(مُخ-تص)صفت- خاص کړے شوے- مخصوص کړے شوے- (م- عربي)-

مختصر:(مُخ-ته-صَر)صفت- خلاصه کړے شوے- خلاصه- لنډ- لږ- کوتاه- ورکوټے- (عربي)-

مختصراً:(مُخ-ته-صه-رَن)متعلق فعل- په لنډو- لنډه دا چې- په اختصار سره- خلاصه دا چې-

مختګ:(مخ-تګ)اسم- ترقي- وړاندې تلنه- پرمختګ-

مختلف:(مُخ-ته-لف)صفت- چې يو شان نه وي- جدا- مخالف- بيل بيل- رنګ په رنګ- (م- عربي)-

مختلونے:(مخ-تلو-نے)صفت- مخکښې تلونکے- پرمختګ کونکے- (افغانستان)-

مخ توروکېدل:(مخ-تور-کې-دل)مصدر لازم- شرمنده کېدل- شرمېدل-

مختورن:(مخ-تو-رن)صفت- شرمنده- ذليل- بې عزته- ملامته- بې حيا-

مختوري:(مخ-تو-ري)اسم- واحد- مؤنث- بې عزتي- شرمندګي- بې حيائي-

مختورے:(مخ-تو-رے)صفت- رټلے شوے- ملامته- بې عزته-

مختون:(مخ-تُون)صفت- سنت کړے شوے- سنت شوے- (م- عربي)-

ربر (ح-ببه-ره)، زورکے (شل)، تېږش (تو-کا-سره)، ومر (ک-تاب)، جزم (شکون)، ه (ر-ره)، ۃ (پو-سي-ده)

مختیار:(مُخ-تیار)صفت- اختیارمند- (م- عربی)-

مخدوم:(مخ-دوم)صفت- خدمت کړے شوے- بزرګ- عزتمند- بادار- آقا- (م- عربی)-

مخرانی:(مخ-را-نی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دَ وګورئ مرخنی-

محرب:(م-حر-رب)صفت- خراب شوے- وران شوے- (عربی)-

مخرب:(مُ-خَر-رب)صفت- ورانونکے- خرابونکے- (عربی)-

مخرج:(مَخ-رَج)اسم- واحد- مذکر- دَ حارجېدو ځاۍ- دَ وتو ځاۍ- منبع- مصدر- اصل- جرړه- ماده-

محرړی:(مخ-ره-ړی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ مخرنی-

مخرنی:(مَخ-ره-نی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- وګورئ مرخنی-

مخروط:(مَخ-رُوط)صفت- (۱)تراشلے شوے- توږلے- (۲)دَ جیومیټری یو شکل- (عربی)-

مخروطی:(مَخ-رو-طی)صفت- دَ مخروط یو شکل-

مخرونی:(مَخ-رُو-نی)اسم- واحد- مؤنث- کامیابی- کامرانی- عزت-

مخرونی:(مخ-رو-نی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- (۱)وګورئ مرخنی- عناب- (۲)کامرانه- عزتمنده- بختوره-

مخروی:(مخ-روی)اسم- خان ښوونه- ریا-

مخریری (مَخ-ری-ری)اسم- مارغهٔ- دماغ-

مخزن:(مَخ-زَن)اسم- دَ خزانې ځاۍ- دَ جمع کولو ځاۍ- (م- عربی)-

مخ ښکته:(مَخ-ښکه-ته)متعلق فعل- د لاندی پهٔ طرف-

مخصوص:(مَخ-صُوص)صفت- خاص کړے شوے- غوره کړے شوے- نامزد شوے- (عربی)-

مخصوصاً:(مَخ-صُو-صَن)متعلق فعل- خاص طور سره-

مخفف:(مُ-خَف-فَف)صفت- تخفیف کړے شوے- کم کړے شوے- مختصر کړے شوے- (م- عربی)-

مخفی:(مَخ-فی)صفت- پټ- نامعلوم- (م- عربی)-

مخ کاته:(مَخ-کا-ته)اسم- واحد- مؤنث- هغه رسم چې پهٔ مخې کښې د ناوې مخ کتے شی او ورله دَ کتونکیو لهٔ اړخه څهٔ تحفه ورکولے شی- مخ ښینګ- مخ کتنه-

مخ کتنه:(مَخ-که-تَنه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ مخ کاته-

مخکښ:(مَخ-کښ)صفت- مخکښې تلونکے- قائد- هراول دسته- (افغانستان)-

مخکېنے:(مَخ-کی-نے)صفت- دَ مخکښې سر- وړاندینے- اولنے-

مخکښې:(مَخ-کې)حرف جار- وړاندې- پخوا- اګاهو-

مخکښې توب:(مَخ-کې-توب)اسم- واحد- مذکر- (۱)اګاهو کېدنه- (۲)قیادت-

مخلص:(مَخ-لِص)صفت- خالص- ریښتینے- اخلاص مند- خېرخواه- صادق- دَ اخلاص نه ډک- درست-

مخلوط:(مَخ-لُوط)صفت- ګډوډ- اړکجه- سره یوځاۍ- شریک- (م- عربی)-

مخلوق:(مَخ-لُوق)اسم- جمع- مذکر- مخلیق- (۱)دنیا- خلق- اولس- وګړی- (۲)صفت- پیدا کړے شوے-

مخلوقات:(مَخ-لُو-قات)اسم- جمع- مذکر- دَ مخلوق جمع-

مخلیق:(مَخ-لیق)اسم- جمع- مذکر- وګورئ مخلوق-

مخ مروت:(مَخ-مُر-وَت)اسم مرکب- لحاظ- خاطر- خیال- روی- رعایت- پرده- جنبه- مخ ملازه-

مخمس:(مُ-خَم-مس)صفت- (۱)پېنځهٔ ضلعې لرونکے شکل- پېنځهٔ کونجیز(جیومیټری)- (۲)پېنځهٔ مصرعه ایز بندونه لرونکے نظم- (شاعری- عربی)-

مخمصه:(مَخ-مه-صه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)جنګ جګړه- (۲)تذبذب-

مخمل:(مَخ-مَل)اسم- واحد- مذکر- یوه پسته کپړه- یو نرم او قیمتی ټوکړ- مخمل- (عربی)-

مخ ملازه:(مَخ-مه-لا-زه)اسم مرکب- وګورئ مخ مروت-

مخملی:(مَخ-مه-لی)صفت- دَ مخمل سره متعلق- دَ مخمل پهٔ رنګ-

مخمور:(مَخ-مُور)صفت- نشه- مدهوش- پهٔ نشه کښې مست- (عربی)-

مخنث:(مُ-خَن-نَث)صفت- هیجړا- ایجړا- ښځونے- نامرد- (عربی)-

مخ نیوے:(مَخ-نی-وے)اسم- واحد- مذکر- انسداد- تدارک- مخه نیونه-

مخنے:(م-خه-نے)صفت- مخکښینے- پخوانے- وړاندینے-

مخوازه:(مَخ-وا-زه)اسم- واحد- مؤنث- خلقه- خرقه- شوقه- چفه- اندرګی- چوړ- جمع مخوازی-

مخ وچونے:(مَخ-وُ-چو-نے)اسم- واحد- مذکر- رومال- تولیه-

مخور:(مه-خور)صفت- (۱)وګورئ مخوریز- (۲)رپیلے-

مخوری:(مه-خُو-ری)اسم- واحد- مذکر- لحاظ- خاطر- عزت- تعلق- اعتبار-

مخوریز:(مه-خو-ریز)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)دَ مخ او لحاظ څښتن- دَ اثر رسوخ خاوند- سپین روے- مخور- مشهور- معتبر- (۲)نیازبین- نازولے-

مخه:(مه-خه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)لور- طرف- پوه- اړخ- (۲)وجه- سبب-

مخه:(مُ-خه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ موخه-

مخه ښه:(مه-خه-ښه)اسم- واحد- مؤنث- الوداع- رخصتونه-

مخی:(مه-خی)اسم- واحد- مؤنث- دَ خور پهٔ بدل کښې کړې- دَ خور تندرور-

مخی توب:(مه-خی-توب)اسم- واحد- مذکر- مخی والے- برابرتیا- مقابله-

مخی والے:(مه-خی-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ مخی توب-

مخیر:(مُ-خَی-یر)صفت- خېرات ورکونکے- فیاض- سخی-

مخې:(مه-خې)اسم- واحد- مذکر- (۱)جوړه- پله- خواپ- (۲)مخکښې- (۲)مثال-

مخے:(مه-خے)متعلق فعل- مخ ته- مخ په مخامخ-

مخے:(مه-خے)صفت- سیال- مخوریز-

مد:(مد)اسم- واحد- مذکر- خمار- نشه- (سنسکرت)-

مد:(مد)اسم- واحد- مذکر- یوه پېمانه چې د ۱،۳۳۳ د طول برابر وی-

www.pukhto.net

(م- عربي)-

مد:(مد)اسم- واحد- مذکر- رواج- دستور-

مداح:(مَد-داح)صفت- ثناخوان- تعریف کونکے- صفت کوُنکے- (م- عربي)-

مداحي:(مه-دا-حي)اسم- واحد- مؤنث- ثناخواني- تعریف-

مداخلت:(مُ-دا-خه-لت)اسم- واحد- مذکر- ننوتنه- دخل ورکونه- لاس وهنه-

مدار:(مه-دار)اسم- واحد- مذکر- (۱)خدمت کونه- خاطر تواضع- دار مدار- خاطر- لحاظ- (۲)زغم- صبر- (۲)منحصره-

مدار:(مه-دار)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ گردش یا تاوېدو ځاې- جاری دور- گردش- (۲)ذهره- (۲)شعبده- جادو- سحر-

مدار:(مه-دار)اسم- واحد- مونث- ملاحظه- لحاظ و قدر- مروت- (عربي)-

مداري:(مه-دا-ري)اسم- واحد- مذکر- مدار کوُنکے- د مدار لوبه کوُنکے- شعبده باز- بازي گر- پېلي مار- چالاک-

مدافعت:(مُ-دا-فِ-عَت)اسم- واحد- مذکر- دفعه کونه- لري کونه- حفاظت- (م- عربي)-

مدام:(مُ-دام)متعلق فعل- همېشه- تل- ترتله- متواتر- ټول عمر- (عربي)-

مدامي:(م-دا-مي)صفت- همېشه- دائمي-

مدبر:(مُ-دَب-بِر)صفت- تدبير کوُنکے- هوښيار- عقلمند- دانشمند- (م- عربي)-

مدت:(مُد-دَت)اسم- واحد- مذکر- (۱)موده- زمانه- وخت- میعاد- ساعت- (۲)هغه موده چې طلاقه شوې یا کُنډه ښځه يې دَ شریعت مطابق تېروي- (م- عربي)-

مدح:(مه-دح)اسم- واحد- مؤنث- هغه نظم چې پکښې دَ چا تعریف شوے وي- ستائنه- تعریف- ثنا-

مدح گوي:(مه-دح-گوي)اسم- واحد- مذکر- تعریف کوُنکے- مدح کوُنکے-

مدحيه:(مد-حي-يه)صفت- مدح سره منسوب- دَ تعریف قابل-

مدد:(مه-دَد)اسم- واحد- مذکر- (۱)امداد- مرسته- کُمک- کومک- پره- (۲)دَ مزدورانو ټولے-

مدد گار:(مه-دَد-گار)صفت- مدد کوُنکے- مرسته کوُنکے- حمایت کوُنکے- (م- فارسي)-

مددګاري:(مه-دَد-گا-ري)اسم- واحد- مؤنث- مرسته- مدد- حمایت-

مدرس:(مُ-دَر-رِس)اسم- واحد- مذکر- درس کوُنکے- دَ مدرسې استاد- استاذ- معلم- (م- عربي)-

مدرسه:(مد-ره-سه)اسم- واحد- مؤنث- د درس و تدریس ځاې- سکول- مکتب- ښوونځاې-

مدرسي:(مُ-دَر-رِ-سي)اسم- واحد- مؤنث- دَ درس و تدریس پېشه- استاذي- معلمي-

مدعا:(مد-دَ-عا)اسم- واحد- مذکر- مرضي- مطلب- مقصد- مراد- منشا- غرض- غبښته-

مدعاعليه:(مُد-دَ-عا-عه-ليه)اسم- واحد- مذکر- په چا چې دعوٰی شوې وي-

مدعو:(مَد-عُو)صفت- بللے شوے- دعوت ورکړے شوے- (م- عربي)-

مدعي:(مُد-دَه-عي)اسم- واحد- مذکر- دعوٰی کوُنکے- دعوٰی لرونکے- (م- عربي)-

مدغم:(مُد-غَم)صفت- پیوست- گډ- شامل- داخل- ننوتے- (م- عربي)-

مدفن:(مد-فن)اسم- واحد- مذکر- قبر- مزار- (عربي)-

مدفون:(مَد-فُون)صفت مفعول- دفن کړے شوے- ښخ کړے شوے- (م- عربي)-

مدقوق:(مد-قوق)صفت- د تپ دق مریض- (م- عربي)-

مدک:(مه-دَک)اسم- واحد- مذکر- افیم چې په چیلم کښې څټلے شي-

مدکي:(مه-دَ-کي)صفت- دَ مدکو نشئ- دَ مدکو نشه کونکے-

مدلل:(مُ-دَل-لل)صفت- په دلیل سره ثابت کړے شوے- (م- عربي)-

مدلول:(مد-لُول)صفت- ثابت کړے شوے- (م- عربي)-

مدوجزر:(مد-و-جه-زر)اسم- واحد- مذکر- دَ سمندري لهٔ اثره په اُبو کښې پیدا شوی موجونه او دَ هغې واپس کېدنه- (م- عربي)-

مدوکے:(مه-دو-کے)اسم- واحد- مذکر- اُوږده دَ لرګي چوکه چې سر ته يې دوه غاښے سیخ لګېدلے وي او چوک ته پرې ځشاک راکاږي-

مدني:(مه-ده-ني)صفت- دَ مدینې وسېدونکے- مدینې سره متعلق- (م- عربي)-

مدنيت:(مه-ده-ني-يت)اسم- واحد- مذکر- تهذیب- تمدن- (م- عربي)-

مدون:(مُ-دَو-وَن)صفت- تدوین شوے- جمع کړے شوے- (عربي)-

مدون:(م-دو-وِن)فاعل- جمع کوُنکے- مرتب کوُنکے- (م- عربي)-

مده:(مه-ده)اسم- واحد- مؤنث- وکوری موده-

مدهوش:(مَد-هوش)صفت- چې دَ نشې په وجه يې هوش نهٔ وي- په نشه کښې بې خوده- بدمست- حیران- (م- فارسي)-

مدهوشي:(مَد-هو-شي)اسم- واحد- مؤنث- بېهوشي- بېخودي- مستي- نشه-

مدير:(مُ-دير)اسم- واحد- مذکر- (۱)چلوُنکے- (۲)ایډیټر- (۲)دَ دفتر مشر-

ميډل:(م-ډل)صفت- (۱)درمیانه- مینځوموانه- میانه- (۲)اتم جماعت- (م- انګریزي)-

مذاق:(مه-ذاق)اسم- واحد- مذکر- (۱)ټوقې- ټقالې- مسخرې- (۲)خوند- لذت- ذائقه- (عربي)-

مذاقاً:(مه-ذا-قَن)متعلق فعل- (۱)د ټوقو نه- دَ مذاق په طور- په ټوقو کښې- (۲)دَ مزې په ډول-

مذاقيه:(مه-ذا-قي-يه)صفت- (۱)خندنے- (۲)مذاق سره متعلق-

مذاکره:(مُ-ذا-که-ره)اسم- واحد- مؤنث- خپلو کښې بحث مباحثه کول- سره کېښدل- خپلو کښې ذکر کول- (م- عربي)-

مذاهب:(مه-ذا-هب)اسم- جمع- مذکر- دَ مذهب جمع- طریقې- لارې- مذهبونه- (م- عربي)-

مذبح:(مَذ-بح)اسم- واحد- مذکر- دَ حلالولو ځاې- دَ ذبح کولو ځاې-

www.pukhto.net

قتل گاه- مقتل- قصاب خانه- (م- عربي)-

مذبذب:(مُ-ذَب-ذَب)صفت- غير مستقل مزاجه- ګوډ- مشتبه- په شک کښې- (عربي)-

مذبوح:(مَذ-بُوح)صفت-مفعول- ذبح کړے شوے- حلال شوے- (م- عربي)-

مذکر:(مُ-ذَک-کَر)اسم- واحد- مذکر- (۱)نر- سړے- د مؤنث ضد- (۲)ګرامر کښې هغه اسم چې نر حسابيږي- (م- عربي)-

مذکور:(مَذ-کُور)صفت-مفعول- ذکر شوے- بيان کړے شوے- وئيلے شوے- (م- عربي)-

مذکوره:(مذ-کُو-ره)صفت- د مذکور مؤنث- (م- عربي)-

مذمت:(م-ذم-مت)اسم- واحد- مذکر- غندنه- ترټنه- (م- عربي)-

مذموم:(مَذ-مُوم)صفت- بد- خراب- قبيح- (م- عربي)-

مذوب:(مه-ذَوب)صفت- مجذوب- لېون ټارے- بې زبانه-

مذهب:(مذ-هب)اسم- واحد- مذکر- عقيده- ايمان- طريقه- لاره- دين- (م- عربي)-

مذهبي:(مذ-هه-بي)صفت- مذهب سره منسوب- مذهب سره تړلے-

مذي:(مه-ذي)اسم- واحد- مؤنث- هغه سرې رنه او ليږژنه ماده چې د شهوت په وخت د سړي د آله تناسل نه څاڅکي څاڅکي څي- (عربي)-

مر:(مُر)اسم- واحد- مذکر- (۱)مړے- مړه- (۲)هاغلے- نر- (۳)مړينه- مرګ-

مر:(مُر)اسم- واحد- مذکر- کولنګ- ګيټي- (۲)المړ- نمر-

مُر:(مُر)اسم- واحد- مذکر- مُهر- ختم-

مراتب:(مه-را-تب)اسم- جمع- مذکر- د مرتبه جمع- درجې- مرتبې- رتبې-

مراثي:(م-را-ثي)اسم- واحد- مذکر- د موسيقۍ ماهر- ډم-

مراجعت:(م-را-جه-عت)اسم- واحد- مذکر- واپسي- پستنه کېدنه- رجوع کونه- راستنيدنه- (عربي)-

مراحل:(مه-را-حل)اسم- جمع- مذکر- د مرحله جمع- (عربي)-

مراد:(م-راد)اسم- واحد- مذکر- مقصد- مطلب- غرض- مدعا- ارمان- (عربي)-

مرادمن:(م-راد-من)صفت- چې مراد يې حاصل شوے وي- کامياب- حاجت پوره-

مراسلات:(مُ-را-سه-لات)اسم- جمع- مذکر- د مراسله جمع- (عربي)-

مراسله:(مُ-را-سه-له)اسم- واحد- مؤنث- چيټۍ- ليک- خط- نامه- (عربي)-

مراسم:(مه-را-سم)اسم- جمع- مذکر- د رسم جمع- رسمونه- قاعدې- خپلو سره تګ راتګ او ليدنه کتنه- (عربي)-

مرافعه:(م-را-فه-عه)اسم- د ماتحت عدالت د فيصلې خلاف په لوئ عدالت کښې عرضي پيش کول- اپيل- نظرثاني-

مراق:(م-راق)اسم- واحد- مذکر- ليونتوب- د دماغ يوه بيماري- ماليخوليا- سودا- (عربي)-

مراقبه:(م-را-قه-به)اسم- واحد- مؤنث- سر په ګريوان کښې ښکته کونه- غور- فکر- تصور- خيال- (عربي)-

مرام:(مه-رام)اسم- واحد- مذکر- مقصد- مطلب- مراد- هيله- مطلوب- (عربي)-

مرانده:(مه-ران-ده)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د خېمې يا تمبو تړے پړے- ماندره- تناوې- (۲)د زړه رګونه-

مراوده:(مه-را-وه-ده)اسم- واحد- مؤنث- رشته داري- خپلولي- تعلق- راشه درشه-

مربړ:(مر-بړ)صفت- په کار کښې پوخت- کار کښې لګيا- کار کښې اخته-

مربع:(م-ر-بع)صفت- چې څلور واړه اړخونه ئې يو برابر وي- څلورګټه- څلورګوټے- (عربي)-

مربوط:(مر-بوط)صفت- تړون لرونکے- تړلے- بل سره لګيدلے- لګولے شوے- متعلق- (عربي)-

مربه:(م-ره-به)اسم- واحد- مذکر- (۱)په چينو کښې پخولے شوې ميوه چې له سخا کېدلو بچ کړے شي- (۲)طنزاً اسانې سره موندلے څيز-

مربي:(م-رب-بي)اسم- واحد- مذکر- پالونکے- پرورش کونکے- سرپرست- مشر- (عربي)-

مرتب:(م-رت-تب)صفت- ترتيب ورکړے شوے- په قاعده کړے شوے- منجوړ-

مرتب:(م-رت-تب)اسم- واحد- مذکر- ترتيب ورکونکے- سمونکے- په قاعدې سره کښېښونکے- (عربي)-

مرتبان:(مر-ته-بان)اسم- واحد- مذکر- يو قسم د چينۍ لوښے چې اچار، مربه، چټنۍ يا داسې نور څيزونه پکښې ايښودے شي-

مرتبت:(مر-ته-بت)اسم- واحد- مذکر- درجه- مرتبه- رتبه- پايه- عهده- (عربي)-

مرتبه:(مر-ته-به)اسم- واحد- مؤنث- درجه- رتبه- عهده- کمال- (عربي)-

مرتجع:(مر-ته-جع)صفت- رجعت پرست- رجعتي- (عربي)-

مرتد:(مُر-تد)صفت- له اسلام نه اوړيدلے- ګمراه- بې لارې- (عربي)-

مرتضى:(مُر-ته-ضا)صفت- (۱)خوښ شوے- خوښ کړے شوے- خوښ- مشهور- (۲)د حضرت علي رضي الله تعالى عنه يو لقب- (عربي)-

مرتکب:(مُر-ته-کب)صفت-فاعل- عمل کونکے- کونکے- ارتکاب کونکے- (عربي)-

مرثيه:(مر-ثي-يه)اسم- واحد- مؤنث- هغه نظم چې د مړو په غم او صفت کښې وئيلے شوے وي- هغه نظم چې پکښې د کربلا د شهيدانو د تکليفونو او د مصيبتونو بيان وي- (عربي)-

مرجان:(مر-جان)اسم- واحد- مذکر- يو قسم قيمتي کاڼے چې سُور رنګ لري- سره مرغلره- (عربي)-

مرجونا:(مَر-جُو-نا)اسم- واحد- مذکر- غوپه خور- غوپه مار- غواص- مرجيون-

"ی" (ښي-ړل)، "ي" (هي-ره-ول)، "ې" (پيا-لي)، "ئ" (تن-دي) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

مرجيون:(مر-جي-ون)اسم- واحد- مذکر- وګورئ مرجونړ-

مرچ:(مرچ)اسم- واحد- مذکر- (۱)يو قسم توري داني چي د مصالي په طور استعمالولے شي- (۲)مرچکي- نباتاتي نوم کېپسيکم فروټسنز (CAPSICUM FRUTESCENS)-

مرچړے:(مر-چړ-ړے)اسم- واحد- مذکر- د لرګي بوټی- مرچوبے-

مرچک:(مر-چک)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ارمبو-

مرچکے:(مر-چه-کے)اسم- واحد- مذکر- د شين او سور رنګ يوه سبزي. نباتاتي نوم کېپسي کم (CAPSICUM)- (۲)صفت- تريخ مزاج لرونکے-

مرچنډوخ:(مر-چن-ډوخ)اسم- واحد- مذکر- چيندخ- باټها-

مرچوړے:(مر-چو-ړے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ مرچړے-

مرچوغنه:(مر-چوغ-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ مُچغنه-

مرڅوړے:(مر-څو-ړے)اسم- واحد- مذکر- د بوټي چړوولو بوټے- مزرے-

مرڅيتوب:(مر-څي-توب)اسم- واحد- مذکر- دښمني- ترېګني-

مرڅيک:(مر-څي-ئک)اسم- واحد- مذکر- د اور لُوښے-

مرڅي:(مر-څي)اسم- واحد جمع- مؤنث- دښمنه-

مرڅے:(مر-څے)صفت- دښمن- (متروک)-

مرحبا:(مر-حه-با)کلمهٔ تحسين- (۱)شاباش- واه واه- افرين- (۲)راښکيرئه- راه- (۳)پخير راغلے-

مرحله:(مر-حه-له)اسم- واحد- مؤنث- پړاؤ- منزل-

مرحمت:(مر-حه-مت)اسم- واحد- مذکر- مهرباني- پېرزونه- پېرزوينه- (عربي)-

مرحوم:(مر-حوم)صفت- چي رحمت پري کړے شوے وي- بخښلے شوے- مړ شوے- (عربي)-

مرخانۍ:(مر-خا-نۍ)اسم- واحد جمع- مؤنث- عناب- وګورئ مرخنۍ-

مرخص:(م-ر-خص)صفت- رخصت شوے- اجازت ورکړے شوے- (عربي)-

مرخنۍ:(مر-خه-نۍ)اسم- واحد/جمع- مؤنث- د بېرو په شان يوه ميوه- عُناب- مخراني- مخرږي- مخرنۍ- مخرونۍ- نباتاتي نوم زيزي فس سټيوا (ZIZYPHUS SATIVE)-

مرد:(مرد)اسم- واحد- مذکر- نر- سړے- نارينه- (عربي)-

مرد:(مرد)اسم- واحد- مذکر- د انګازي ځاے چرته چي اواز راتعبيږي- (افغانستان)-

مرداب:(مر-داب)اسم- واحد- مذکر- ولاړې ابه- (فارسي)-

مردار:(مر-دار)صفت- چي حلال شوے نه وي- چي خوړے نه شي- ناصفا- پليت- حرام- (فارسي)-

مرداربي:(مر-دار-بي)اسم- واحد- مؤنث- مرداري ابه- مني- (متروک)-

مردارخور:(مر-دار-خور)صفت- حرام خور- مرداري خوړونکے-

مردارسنګ:(مر-دار-سنګ)اسم- واحد- مذکر- يو کېمياني توکے- د سيکې مانواکسائډ-

مردارول:(مر-دا-رول)مصدر متعدي- (۱)مړکول- (۲)پليتول- ناپاکه کول-

مردارون:(مر-دا-رون)حاصل مصدر- وګورئ مردارول-

مردارونکے:(مر-دا-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مردارونکي- مؤنث مردارونکي- وګورئ مردارول-

مرداروګ:(مر-دا-روګ)حاصل مصدر- وګورئ مردارول-

مردارونه:(مر-دا-رو-نه)حاصل مصدر- وګورئ مردارول-

مرداروهٔ:(مر-دا-روهٔ)حاصل مصدر- وګورئ مردارول-

مرداره:(مر-دا-ره)اسم- واحد- مؤنث- د مردار مؤنث-

مردارمږے:(مر-دار-مږے)اسم صفت- پليت- يوه ښېره-

مردارهړے:(مر-دار-هړے)صفت- هغه څوک چي په حرامو لوئ شوے وي-

مرداري:(مر-دا-ري)اسم- واحد- مؤنث- ناپاکي- ګندګي- پليتي-

مرداري بېي:(مر-دا-ري-بې-نې)اسم- جمع- مؤنث- د مرغانو د بچو هغه بېي چي له اګې نه د راوتلو په وخت کښي لري-

مرداريدل:(مر-دا-ري-دل)مصدر لازم- مړ کېدل- پليتېدل- ناپاکه کېدل- سخا کېدل-

مرداريدن:(مر-دا-ري-دن)حاصل مصدر- وګورئ مرداريدل-

مرداريدنګ:(مر-دا-ري-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ مرداريدل-

مرداريدنه:(مر-دا-ري-دنه)حاصل مصدر- وګورئ مرداريدل-

مرداريدونکے:(مر-دا-ري-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مرداريدونکي- مؤنث مرداريدونکي- وګورئ مرداريدل-

مرداريدهٔ:(مر-دا-ري-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ مرداريدل-

مرداږ:(مر-داږ)صفت- مردار- حرام-

مردان:(مر-دان)اسم- جمع- مذکر- د مرد جمع- سړي-

مردانه:(مر-دا-نه)صفت- د سړي سره متعلق-

مردک:(مر-دک)صفت- د مرد تصغير- وړوکے سړے- (تحقيراً)- (فارسي)-

مردک:(مر-دک)اسم- واحد- مذکر- د ټوپک ګولۍ- مردکے- غنډے- مردک- پنډوس- منډوس-

مردکوټے:(مرد-کو-ټے)اسم تصغير- واحد- مذکر- غولے- نامرد- بي غېرته سړے-

مردکه:(مر-ده-که)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ مردکے-

مردکے:(مر-ده-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)د غزانو په شان واړهٔ ګرد مهين کاڼي چي ماشومان پري لوبي کوي- کلکولے- دالوے- مردک- مردکه- (۲)ګولۍ-

مردکي:(مر-ده-کي)اسم- واحد- مؤنث- وړه مردکه-

مردکان:(مر-ده-کان)اسم- جمع- مذکر- د مرده جمع- مړي- (فارسي)-

مردم:(مر-دم)اسم- واحد- مذکر- بنيادم- سړي- خلق- اولس- (فارسي)-

مردمک:(مر-ده-مک)اسم- واحد- مذکر- د سترګو تور- کسے- (شاعري)-

www.pukhto.net

(فارسی)-

مردندان:(مر-دن-دان)اسم- واحد- مذکر- یو قسم واښه یا بوټی- جوډر- جمدر- مستک- جوندر- نباتاتی نوم- کنول ویولس اروینسس (CONVOLVULUS ARVENSIS)-

مردنګ:(مر-دنګ)اسم- واحد- مذکر- یو مخیز ډولکی- طبله- (فارسی)-

مردود:(مر-دود)صفت- ردکړے شوے- رټلے شوے- سپک شوے- خوار- ذلیل- لعنتی- (عربی)-

مرده:(مر-ده)صفت- بې ساه- مړے- (فارسی)-

مرده خور:(مر-ده-خور)صفت- مردارخور-

مرده شوئ:(مر-ده-شوئ)صفت- مړی لمبونکے- غسال-

مردی:(مر-دی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)نرتوب- (۲)سړی توب- (۲)منی-

مرورخ:(مر-ورخ)اسم- واحد- مذکر- مرغ- کرک- ښټېر- سائنسی نوم کوټرنس (COTURNIX)-

مرړی:(مر-ړی)اسم- واحد- مذکر- یو قسم ساګ-

مرز:(مرز)اسم- واحد- مذکر- د کر قابله زمکه- (فارسی)-

مرز:(مرز)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم بوټے چې بند بند وېخ لري او ماشومان ئې خوري-

مرزا:(مر-زا)صفت- (۱)میرزاده- شاه زاده- (۲)د مغلو لقب- (۲)لیکونکے- پټواری- (۴)د پولیس د تانې محرر- منشي-

مرزاتوب:(مر-زا-توب)اسم- واحد- مذکر- (۱)منشي توب- پټواری توب- (۲)سرداری- مرزائي-

مرزائي:(مر-زا-ئي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: مرزاتوب- جمع مرزایان

مرزبان:(مرز-بان)اسم- واحد- مذکر- (۱)زمیندار- (۲)د سرحدی صوبې افسر-

مرزغن:(مر-زه-غن)اسم- واحد- مذکر- قبرستان- مقبره- هدیره- (فارسی)-

مرزے:(مر-زے)اسم- واحد- مذکر- زمرے- مزرے-

مرږنی:(مر-ږه-ني)اسم- واحد- مؤنث- واسکټ- جېکټ- جاکټ-

مرستنه:(مرس-ته-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ: مرسته-

مرستوال:(مرس-توال)صفت- مرستیال- مرستي- حمایتي- (افغانستان)-

مرستون:(مرس-تون)اسم- واحد- مذکر- (۱)د مرستې ځاې- (۲)مرستیال- (افغانستان)-

مرستونے:(مرس-تو-نے)صفت- وګورئ: مرستیال- (افغانستان)-

مرسته:(مرس-ته)اسم- واحد- مؤنث- مرستنه- (۱)سعي- کوشش- تلاش- لټون- (۲)ملګرتیا- طرفداری- حمایت-

مرستي:(مرس-تي)صفت- وګورئ: مرستیال- (افغانستان)-

مرستیال:(مرس-تیال)صفت- طرفدار- حمایت کوونکے- نائب- (افغانستان)-

مرسل:(مر-سل)صفت مفعول- ارسال کړے شوے- لېږلے شوے- رسول- پېغمبر-

مرسل:(مر-سل)صفت فاعل- استونکے- لېږونکے- ارسال کوونکے- (عربی)-

مرسله:(مر-سه-له)صفت مفعول- استولے شوے- لېږلے شوے- (عربی)-

مرشد:(مر-شد)اسم- واحد- مذکر- ارشاد کوونکے- هدایت کوونکے- پیر- هادی- نېغه لار ښوونکے- (عربی)-

مرصع:(م-رص-صع)صفت مفعول- (۱)چې پکښې یا پرې باندې غمې، مرغلرې او جواهر لګېدلي وي- په کالو ښانسته کړے شوے- جړاؤ- (۲)قیمتي- ښائسته- (عربی)-

مرض:(مه-رض)اسم- واحد- مذکر- بیماری- رنځ- ناروغتیا- (عربی)-

مرضي:(مر-ضي)اسم- واحد- مؤنث- خوښي- خوښه- رضا- اجازت-

مرضی:(مه-ره-ضی)صفت- (۱)بیمار- بیماری لرونکے- (۲)کنی- موبسی- (۲)بچه باز- د هلکانو شوقی-

مرضیات:(مر-ضی-یات)اسم- جمع- مؤنث- د مرضی جمع- (عربی)-

مرطوب:(مر-طوب)صفت- نمژن- تر- لوند- (عربی)-

مرطوبیت:(م ... -یت)اسم- واحد- مذکر- لوندوالے- تروالے- (عربی)-

مرعوب:(م ...)صفت مفعول- په رعب کښې راغلے- زېږېدلے- (عربی)-

مرغ:(مرغ)اسم- واحد- مذکر- (۱)چرګ- (۲)مرغۍ- (فارسی)-

مرغابی:(مر-غابی)اسم- واحد جمع- مؤنث- بطخه- هیلی- ایلي- سائنسي نوم د اناټائیډې (ANATIDAE) د خاندان مارغه- (م- فارسی)-

مرغاوی:(مر-غاوی)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ: مرغابی-

مرغتانه:(مر-غه-تا-نه)اسم- واحد- مؤنث- کونګټ-

مرغچے:(مر-غه-چے)اسم- واحد- مذکر- کنبے- هغه سړے چې فصل او پټو ته مرغۍ شړي- د پټو محافظ-

مرغچیچه:(مر-غ-چي-چه)اسم- واحد- مؤنث- کونجکه- خرموره- خرمهره-

مرغړی:(مر-غه-ړی)اسم- واحد- مؤنث- غوټه-

مرغروه:(مر-غړ-وه)اسم- واحد- مؤنث- یوه غرنیزه ونه-

مرغړی:(مر-غه-ړی)اسم- واحد- مذکر- په بدن کښې د غوښې هغه ګیټکی چې لعاب پیدا کوي- پاړسوب- سنغ- غنډارے-

مرغزار:(مر-غ-زار)اسم- واحد- مذکر- چمن- ورشو- (فارسی)-

مرغ زرین:(مر-غ-ز-رین)اسم- وګورئ: لېټ- لوبټ- لومټ-

مرغسته:(مر-غس-ته)اسم- واحد- مؤنث- نری وربخ-

مرغسن:(مر-غ-سن)اسم- واحد- مؤنث- د وربښې ږړې ږړې ټوکړې چې په ټول اسمان خورې وي-

مرغک:(مر-غک)اسم- واحد- مذکر- مرې- چنغک- کورکوټو-

مرغلره:(مر-غه-له-ره)اسم- واحد- مؤنث- لعل- یو قسم قیمتي کاڼے- ملغره- (ش- لاطیني)-

مرغلمزی:(مر-غه-لم-زی)صفت- وګورئ: مرغلین- (افغانستان)-

مرغلین:(مر-غه-لین)صفت- مرغلرې سره منسوب- مرغلرې سره تړلے- مرغلمزی- (افغانستان)-

مرغوب:(مر-غوب)صفت- زړه ته نژدې- خوښ- (عربی)-

ئ: (ځی-رل)، ټ:(ضي-ره-ول)، ړ:(پيا-لی)، ې:(تن-ډې) تفصيل د پاره وګورئ: تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

مرغوبیت:(مَر-غُو-بِی-یَت)اسم- واحد- مذکر- خوښېدنه- محبوبیت-

مرغوټی:(مر-غو-ټِي)اسم- د مرۍ یوه بیماري- مرغړی-

مرغوڅې:(مر-غو-څِي)اسم- جمع- مذکر- وګورئ مرغوړي-

مرغوړنه:(مر-غو-ړَ-نه)اسم- واحد- مؤنث- غرور- لوټي- تکبر- کبر-

مرغوړي:(مر-غو-ړِي)اسم- جمع- مذکر- (۱)مړدکي- بلوري- غبیاري- مرغوڅې- میرغوړي- (۲)لوټي- کبر- غرور- (فارسي- مرغونه)-

مرغول:(مَر-غول)صفت- (۱)ګران- مشکل- ګنجلک- سخت- کوږ- (۲)مغرور- متکبر-

مرغولے:(مر-غو-لے)اسم- واحد- مذکر- برغو- مرغولے- د ملکانو یوه لوبه- جمع مرغولي-

مرغومکے:(مَر-غوم-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)وګورئ مرغومے- (۲)د ماشومانو د یوې لوبې نوم-

مرغومي کول:(مر-غو-مي-کـ-ول)مصدر متعدي- ورغومي کول- د ماشومانو یوه لوبه کول-

مرغومے:(مر-غو-مے)اسم- واحد- مذکر- ورغومے- د چېلۍ بچے-

مرغه:(مر-غه)اسم- واحد- مؤنث- شینکے- شین او پوست واښه- سبزه زار- (افغانستان)-

مرغه چیچ:(مر-غه-چیچ)اسم- واحد- مذکر- مرغچیچه- کونجکه- مرغه چیچه-

مرغه چیچه:(مر-غه-چی-چه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ مرغه چیچ-

مرغۀ:(مر-غۀ)اسم- واحد- مذکر- مارغۀ-

مرغي پل:(مر-غي-پل)اسم- واحد- مذکر- یو ګل چې د مرغۍ د پنجې په شان وي-

مرغیړی:(مَر-غي-ړی)اسم- واحد- مؤنث- رشپل- راشپل- د شاخېلانو یو اوزار چې رشه پرې پاندولے شي-

مرغینا:(مر-غي-نا)صفت- نامرد- ایجړا- هیجړا-

مرغۍ:(مر-غۍ)اسم- واحد جمع- مؤنث- یو الوتونکے حیوان- د مرغۍ ماده-

مرغۍ ګکۍ:(مَر-غي-ګه-کۍ)اسم- واحد- مؤنث- پنبرک- سالک- پنبېرک- پانیرک- کارګۀ تکۍ- مرغ پړوړے- مرغي پړوړۍ-

مرغي پړوړۍ:(مَر-غي-پړو-ړۍ)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ مرغي ګکۍ-

مرغي مرغي:(مر-غي-مر-غي)صفت متعلق فعل- کیري بیرې- خوابیده- خوبولې- (د سترګو صفت)-

مرغے:(مر-غے)اسم- واحد- مذکر- (۱)وړوکے مرغے- د مرغۍ نر- (۲)د مارغۀ بچے- د ما ... تصغیر-

مرقد:(مَر-قَد)اسم- واحد- مذکر- قبر- مزار- زیارت- (عربي)-

مرقوم:(مَر-قُوم)مفعول- رقم شوے- لیکلے شوے- لیکلے- (عربي)-

مرکاوو:(مـ-مر-کا-وُو)صفت- وګورئ مرکچي-

مرکب:(مر-کَب)اسم- واحد- مذکر- د سورلۍ څیز- د سورلۍ څناور- (عربي)-

مرکب:(مُ-رَ-کّب)صفت- ترکیب کړے شوے- ملاؤ شوے- ګډوډ- (عربي)-

مرکچي:(مـ-مر-که-چي)صفت- هغه مشر چې په جرګو مرکو کښې صلاح مشورې ورکوي- مرکاوو- مرکه چي- مرکوال- د جرګو مشر-

مرکز:(مَر-کَز)اسم- واحد- مذکر- د دائرې مینځنۍ نقطه- مینځ- یو مقرر ځائ- (عربي)-

مرکنډ:(مَر-کَنډ)اسم- واحد- مذکر- مرغټ- مرۍ- مرغک- اورمیږ- مړے- عاړه- څټ-

مرکنډۍ:(مَر-کَن-ډۍ)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مرۍ- غاړه- د څټ اخرۍ حصه- (۲)د غوږ شا ته کېټۍ- (۲)مالکنډۍ- مارکونډۍ- کرمړ-

مرکوال:(مـ-مر-کـ-وال)صفت- وګورئ مرکچي-

مرکوز:(مَر-کُوز)صفت/مفعول- (۱)مضبوط کړے شوے- محکم کړے شوے- (۲)منظور کړے شوے- (۳)راتاؤ- تاؤ راتاؤ- بنځ- تېبک- (عربي)-

مرکونډۍ:(مُر-کُون-ډۍ)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم ازغن بوټے- اغزکے- مارکونډۍ- مالکنډۍ- (۲)صفت- جګړه کونکې ښځه- جګړنه- جګړماره-

مرکه:(مـ-مر-که)اسم- واحد- مؤنث- مجلس- شورئ- جرګه- د صلاح مشورې مجلس- د قبائلو کونسل- انټرویو- خبرې اترې- تولي غُبتنه-

مرکه چي:(مـ-مر-که-چي)اسم صفت- وګورئ مرکچي-

مرکۍ:(مُر-کۍ)اسم- واحد- مؤنث- د ملطرې بچے- دربچه- (افغانستان)-

مرګ:(مُرګ)اسم- واحد- مذکر- مرګېدنه- د ژوند ضد- د ژوند خاتمه- مړینه- مرګے- (فارسي)-

مرګاني:(مر-ګا-ني)صفت- (۱)مرګ سره متعلق- (۲)مرګ ته نژدې- (۳)د مرګ- (۴)مرګونے-

مرګړے:(مَر-ګه-ړے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ملګړے-

مرګز:(مَر-ګز)اسم- واحد- مذکر- یوه نلروغي- (افغانستان)-

مرګ ژواله:(مَرګ-ژواله)اسم- واحد- مذکر- مړے ژوندے- ښۀ بده- معاشرتي تعلقات-

مرګ ژوبله:(مَرګ-ژوبـله)اسم مرکب- جنګ جګړه- جنګ وجدل- شر شدت- داسې جګړه چې څوک پکښې مړۀ او څوک زخمیان شي-

مرګ کونکے:(مرګ-که-وُون-کے)صفت/فاعل- قاتل- قتل کونکے-

مرګو:(مَر-ګو)اسم- واحد- مذکر- طاعون- وبائي بیماري-

مرګوټے:(مر-ګو-ټے)اسم- واحد- مذکر- د مرګ تصغیر- مرګ-

مرګونے:(مَر-ګو-نے)صفت- مرګ ته نژدې- مرګاني-

مرګي:(مر-ګي)اسم- جمع- یو قسم بیماري چې پکښې سړے ناڅاپه راوغرځیږي او بې هوښه شي او د خلې نه یې ځګونه ځي- میرګي- مېرژی- دماغي مرض-

مرګي حال:(مَر-ګي-حال)صفت- (۱)مرګونے- مرګ ته نژدې- مرګي حاله- (۲)ناقلاره-

مرګے:(مَر-ګے)اسم- واحد- مذکر- د مرګ اسم تصغیر- وګورئ مرګوټے-

زبر"(ح-ـمـ-ـره)، زورکے"(شل)، پېښ"(نو-کا-ره)، زېر"(کـ-تـاب)، جزم"(شکوږ)، "ۀ"(ز-ړه)، "ۀ"(وو-ـبي-ـدۀ)

www.pukhto.net

مرله:(مَر-له)اسم- واحد- مؤنث- دَ کنال شلمه برخه-

مرلے:(مَر-لے)اسم- واحد- مذکر- دَ پارو بيم- بين- (هـ- هندي- مُرلي)-

مرمت:(مَ-ر-مَت/مَ-رَم-مَت)اسم- واحد- مذکر- دَ يو څيز دَ ورانيدو نه پس
 هغه بيا دَ استعمال قابل جوړونه- دَ ماتيدو نه پس يو څيز بيا روغونه-
 درستونه-

مرمر:(مَر-مَر)اسم- واحد- مذکر- يو قيمتي کاڼے- سنګ مرمر- (فارسي)-

مرمره:(مَر-مَ-ره)اسم- واحد- مؤنث- دَ وريژو يا دَ شولو وغيره نه جوړې
 شوې پولۍ چې ګوره پکښې اچولے شوې وي- مرنډه- جمع مرمرې-

مرمرې:(مر-مه-رې)اسم- په خوږو کښې اچولے شوې چواره-

مرنجان:(مه-رن-جان)اسم- واحد- مذکر- يوه لزغنه جاړه چې عموماً ئې
 اوښان خوري-

مرمرين:(مر-مه-رين)صفت- د مرمرو په رنګ سپين- (فارسي)-

مرمنډے:(مَر-مَن-ډے)اسم- واحد- مذکر- مرونډ- (افغانستان)-

مرمۍ:(مَر-مۍ)اسم- واحد- مؤنث- دَ ټوپک ګولۍ-

مرميله:(مَر-مي-له)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ارمولے-

مرند:(مه-رند)اسم- واحد- مذکر- دَ اُبو ورخ- جمع مرندونه-

مرنده:(مه-رن-ده)اسم- واحد- مؤنث- هغه ښځه چې د دوو تنو پورې دعوی
 وي-

مرنۍ:(مر-نۍ)اسم- واحد- مؤنث- (۱)اورخاړے- يو قسم ساګ- د نباتاتي
 نوم د پاره وګورئ ورخاړے- (۲)يو بوټے چې سور ګل ،ري- (۳)صفت-
 مرنۍ- د " مرنے " مؤنث-

مرنے:(مه-رنے)صفت- وګورئ مرنے-

مرواري:(مر-وا-ري)صفت- دَ مرواريد په شان- سپين-

مرواريد:(مَر-وا-ريد)اسم- مذکر- دُر- ګوهر- ملغره- لعل- (فارسي)-

مرواله:(مَر-وا-له)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم وُنه- بان- شوږ- دَ خرولي دَ
 خاندان يوه ونه- نباتاتي نوم هيپيرنتيرا موريګا
 (HYPERANTHERA MORINGA)-

مروبا:(مه-رو-با)صفت- مرکب- (افغانستان)-

مروت:(مُ-رو-وت)اسم- واحد- مذکر- بهادري- مړانه- توروزني- (۲)احسان-
 مينه- انسانيت- (عربي)-

مروت:(مر-وت)اسم- واحد- مذکر- خندق- خندک-

مروت:(مر-وَت)اسم- واحد- مذکر- لحاظ- خاطر- اعتبار- پښتو کښې دَ مخ
 سره يو خاڼ هم وئيلے شي لکه مخ مروت-

مروج:(مُ-رو-وَج)صفت- رواج شوے- رائج شوے- جاري- (عربي)-

مرور:(مه-رو-ور)صفت- ناراضه- خفه- زړه بدے- ګيله من- زړه تورے-

مرورتوب:(مه-ر-ور-توب)اسم- واحد- مذکر- خفګان- ناراضتيا- د مرور
 کېدو حالت- مرورتيا-

مرورتيا:(مه-ر-ور-تيا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ مرورتوب-

مروروَل:(مه-ر-مو-ر-ول)مصدر متعدي- خفه کول- ناراضه کول-

مرورون:(مه-ر-مو-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ مروروَل-

مرورونکے:(مه-ر-مو-ر-ورن-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مرورونکي-
 مؤنث مرورونکې- وګورئ مروروَل-

مرورونګ:(مه-ر-مو-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ مروروَل-

مرورونه:(مه-ر-مو-ر-ونه)حاصل مصدر- وګورئ مروروَل-

مروروۀ:(مه-ر-مو-ر-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ مروروَل-

مروربدل:(مه-ر-مو-ري-دل)مصدر لازم- خفه کېدل- ناراضه کېدل-

مروربدن:(مه-ر-مو-ري-دن)حاصل مصدر- وګورئ مرورېدل-

مرورېدنګ:(مه-ر-مو-ري-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ مرورېدل-

مرورېدنه:(مه-ر-مو-ري-دنه)حاصل مصدر- وګورئ مرورېدل-

مرورېدونکے:(مه-ر-مو-ري-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع
 مرورېدونکي- مؤنث مرورېدونکې- وګورئ مرورېدل-

مرورېدۀ:(مه-ر-مو-ري-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب
 صيغه- وګورئ مرورېدل-

مروری:(مر-و-ري)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم بوټے چې سپين ګل لري- د
 ګل مېخ ئې زيړ وي او دارو کښې پکارولے شي-

مرورے:(مه-رو-رے)اسم- واحد- مذکر- د بابونې بوټي ګل (ګياه) چې نرې
 نرې پرې ئې وي او ښائسته خوشبوئي کوي-

مروړ:(مروړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)چونډې- سکونډې مښنه- (۲)خېټه کښې
 د درد پيدا کېدنه-

مروړل:(مرو-ړل)مصدر متعدي- مښل- تاوه ول- تاوول-

مروړلے:(مرو-ړلے)صفت مفعول- مښلے شوے-

مروړلے ترووړلے:(مرو-ړلے-ترو-ړلے)صفت مفعول- په زور اخستے-

مروړن:(مرو-ړن)حاصل مصدر- وګورئ مروړل-

مروړونکے:(مرو-ړون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مروړونکي- مؤنث
 مروړونکې- وګورئ مروړل-

مروړنګ:(مرو-ړنګ)حاصل مصدر- وګورئ مروړل-

مروړنه:(مرو-ړنه)حاصل مصدر- وګورئ مروړل-

مروړۀ:(مرو-ړۀ)حاصل مصدر- وګورئ مروړل-

مروړه:(مه-رو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- خراړه-

مروړے:(مه-رو-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)پېچش- نسخوړے- شوله-
 (۲)زوړکے غنم څېز-

مرونډې:(مرون-ډې)اسم- جمع- مؤنث- (۱)نيني- (۲)وګورئ مرمره-

مرونډې:(مر-ون-ډې)اسم- واحد جمع- مؤنث- يو بوټے چې دَ سېلاب دَ مخ
 نيوي په غرض د پټو په پولو کرلے شي- مرمونډې- مرونډے-

مرونډے:(مر-ون-ډے)اسم- واحد- مذکر- نباتاتي نوم وېټکس نګونډو
 (VITEX NEGUNDO) چې د (VERBENACEAE) د خاندان سره تعلق لري-

ی (ښی-رل) ي (مي-ره-ول)، ئ (ېيا-لی)، ر (ر-ډير) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

وګورئ مروندي۔

مرهم:(مر-هم)اسم- واحد- مذکر- ملهم- پهه- پټۍ-

مرنيتوب:(مر-نی-توب)اسم- واحد- مذکر- غلامي- دٔ مرني کېدو حالت۔

مربيع:(مه-ريع/مر-بيع)اسم- واحد- مذکر- د پوې سپاري نوم- (عربي)-

مريد:(م-رېد)اسم- واحد- مذکر- خواهش مند- ارزومند- ارزو لرونکے- منونکے- شاګرد- مرشد- فرمانبردار- (عربي)-

مريض:(مه-ريض)صفت- بيمار- رنځور- ناجوړه- ناروغه- ناسازه- ناچاقه- بې طبيعته- (عربي)-

مريسه:(مه-ري-سه)اسم- واحد- مؤنث- ګرمه کېږه- يو ورين رخت-

مرينا:(مه-ري-نا)صفت- (۱)وران ويجاړ- (۲)نيمګړے کار- (۳)هغه زمکه چې د کر دَ پاره نهٔ وي تياره- (۴)بې حاصله کښت-

مرينه:(مر-يه-نه)اسم- واحد- مؤنث- وينځه- خدمتګاره- نوکره- د مريي مؤنث-

مريے:(مر-يے)اسم- واحد- مذکر- پهٔ مال اخستے شوے نوکر- غلام- زر خريد مريے- دٔ وينځې مذکر-

مرېجي:(مه-رې-جي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ مرېخي-

مرېخه:(مه-رې-خه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ مرېخي-

مرېخي:(مه-رې-خي)اسم- واحد- مؤنث- دٔ زوئ دٔ پېدائش پهٔ شپږمه ورځ د ماشوم د سر د وېښتو پرېکولو رسم او پهٔ دغه موقع ورکړے کېدونکې ميلمستيا- مرېجي- مرېخه- عقيقه- سرکلے- مرېوي-

مرېوي:(مه-رې-وي)اسم- واحد- مذکر- وګورئ مرېخي-

مرېشکي:(مه-رېش-کي)اسم- واحد- مؤنث- يوه مرغۍ چې اکثر د ولو پهٔ غاړه الوځي رالوځي-

مرېله:(مه-رې-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)عيمت- لوټ- (۲)نوبت- ياري-

مري:(مه-ري)اسم- واحد- مؤنث- (۱)کوړکوړو- غاړه- مرغت- مرغک- (۲)مشکنه- مهره-

مړ:(مړ)صفت- مړشوے- د ژوندي ضد- جمع مړي-

مړام:(مړام)صفت- نلراسته- سست- مړاوے-

مړامتوب:(مړام-توب)اسم- واحد- مذکر- دٔ مړام کېدو حالت- نلراستي- سستي-

مړامجا:(مه-ړام-جا)صفت- ناتوان- کمزورے-

مړامول:(مړا-مه-ول)مصدر متعدي- ناراسته کول- سستول- کاهل کول-

مړامون:(مړا-مه-ون)حاصل مصدر- وګورئ مړامول-

مړامونکے:(مړا-مه-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مړامونکي- مؤنث مړامونکې- وګورئ مړامول-

مړامونګ:(مړا-مه-ونګ)حاصل مصدر وګورئ مړامول-

مړامونه:(مړا-مه-ونه)حاصل مصدر- وګورئ مړامول-

مړاموۀ:(مړا-مه-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ مړامول-

مړامېدل:(مړا-مې-دل)مصدر لازم- ناراسته کېدل- سستېدل- کاهل کېدل- ورستېدل- شړېدل- سخا کېدل-

مړامېدن:(مړا-مې-دن)حاصل مصدر- وګورئ مړامېدل-

مړامېدنګ:(مړا-مې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ مړامېدل-

مړامېدنه:(مړا-مې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ مړامېدل-

مړامېدونکے:(مړا-مې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مړامېدونکي- مؤنث مړامېدونکې- وګورئ مړامېدل-

مړامېدهٔ:(مړا-مې-دهٔ)حاصل مصدر او دٔ ماضي استمراري دٔ واحد غائب صيغه- وګورئ مړامېدل-

مړان:(مه-ړان)صفت- مړنے- بهادر- توروزن- مړنے- (افغانستان)-

مړانجا:(مړان-جا)صفت- پرکال- کاري واړی- (افغانستان)-

مړانه:(مه-ړا-نه)اسم- واحد- مؤنث- مېړانه- بهادري- توره- دٔ مردي کار- جمع مړانې-

مړاۀ:(مړا-ۀ)صفت- (۱)وګورئ مړام- (۲)مړ- مُرده-

مړاوتيا:(مړا-وت-تيا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ مړامتوب-

مړاوول:(مړا-وه-ول)مصدر متعدي- وګورئ مړامول-

مړاوون:(مړا-وه-ون)حاصل مصدر- وګورئ مړاوول-

مړاوونکے:(مړا-وه-وون-کے)اسم فاعل- جمع مړاوونکي- مؤنث مړاوونکې- وګورئ مړاوول-

مړاوونګ:(مړا-وه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ مړاوول-

مړاوونه:(مړا-وه-ونه)حاصل مصدر- وګورئ مړاوول-

مړاووۀ:(مړا-وه-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ مړاوول-

مړاوېدل:(مړا-وې-دل)مصدر لازم- (۱)ورستېدل- خمه کېدل- مړاوے کېدل- ګنجي کېدل- (۲)پژمرده کېدل- پرېشانه کېدل-

مړاوېدن:(مړا-وې-دن)حاصل مصدر- وګورئ مړاوېدل-

مړاوېدنګ:(مړا-وې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ مړاوېدل-

مړاوېدنه:(مړا-وې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ مړاوېدل-

مړاوېدونکے:(مړا-وې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مړاوېدونکي- مؤنث مړاوېدونکې- وګورئ مړاوېدل-

مړاوېدهٔ:(مړا-وې-دهٔ)حاصل مصدر او دٔ ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ مړاوېدل-

مړاوے:(مړا-وے)صفت- (۱)باسي- چې تازه نهٔ وي- (۲)خفه- پرېشان- پژمرده- افسرده- جمع مړاوي-

مړبږ:(مړ-بږ)صفت- (۱)بالکل مړ- (۲)لکه دٔ مړ- (۳)افسرده- مړاوے-

مړتت:(مړ-تت)صفت- نلراسته- ناارامه- شاړي واړی- جانجي-

مړتوب:(مړ-توب)اسم- مړتيا- مړکېدنه-

مړتيا:(مړ-تيا)اسم- وګورئ مړتوب-

مړټک:(مړ-ټک)صفت- سست- کاهل-

www.pukhto.net

مرجورا:(مَر-جو-را)صفت- نامرد- ایجرا- هیجړا-
مرخلے:(مر-خه-لے)اسم- واحد- مذکر- لاش-
مرخوي:(مَر-خوي)اسم- واحد- مؤنث- مړۍ- منی-
مرچونے:(مر-چو-نے)صفت- افسرده- غمرده- مړاوے- مرخپن-
مرخپن:(مر-خه-پن)صفت- مرغیږن- کرغیږن- مړاوے- زیلے شوے- بې کاره- بې خونده- مړکوسے- جیبجن- مرخپے-
مرخپنتیا:(مَر-خه-پن-تیا)اسم- واحد- مؤنث- دَ مرخپن کیدو حالت- پژمردگی-
مرخپے:(مر-خه-پے)صفت- وګورئ مرخپن-
مرحلے:(مر-حَ-لے)صفت- هغه سړے چې کمې خبرې کوي- کم ګو- شرماله-
مرخندی:(مر-خن-دی)اسم- واحد- موںث- مره خندا- مسکیتوب-
مرخندے:(مر-خن-دے)صفت- په شونډو کښې مسکے کېدونکے- په شونډو کښې خندا کونکے- مسخند- جمع مرخندي-
مرخوبه:(مر-خو-به)اسم صفت- وګورئ مرخوبے- جمع مرخوبې-
مرخوبے:(مر-خو-بے)صفت- په ډېر غرق خوب اوده کېدونکے- مرخوبه-
مرحورک:(مر-حو-رک)صفت- (۱)کسے خرے- (۲)وګورئ مرحورے-
مرحوري:(مر-حو-ري)اسم- واحد- موںث- د دق بیماري-
مرخورے:(مر-خو-رے)صفت- د دق بیمار- د سل بیمار-
مرخولے:(مر-خو-لے)صفت- وګورئ مرخلے-
مرد:(مَرد)صفت،اسم- واحد- مذکر- مرد- تکړه- ځوان-
مردک:(مر-دک)اسم- واحد- مذکر- وګورئ مردکے- جمع مردکي-
مردکے:(مر-ده-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ ماشومانو د لوبو د پاره لۀ کانی جوړ شوے ټیک- بلورے- (۲)هر هغه څیز چې ووړکے او غنډ وي- (۳)ګولۍ- (۴)د سترګو کاږې-
مرده خانه:(مر-ده-خا-نه)اسم- واحد- مونث- هغه ځاې چرته چې د مړی پوسټ مارټم کیږي- مړی خانه-
مرز:(مه-رز)اسم- واحد- مذکر- یوه مرغۍ چې خلق ئې جنګوي- بټېر- مرور- سائنسي نوم کوټرنکس COTURNIX-
مرزری:(مر-ره-ری)اسم- منی- مرخوي- مردی- نطفه-
مرزرونے:(مر-ره-رو-نے)صفت- مرخپن- خفه- مرزرے-
مرزرے:(مَر-ره-رے)صفت- مرخپن- چې د زړۀ زور ئې نۀ وي-
مرزګه:(مر-زه-ګه)اسم- واحد- مؤنث- مردارہ- درنګه- لاش-
مرزګه:(مر-ره-ګه)اسم- واحد- مؤنث- خمکار- کمزوري-
مرزه:(مه-رَ-زه)اسم- واحد- مؤنث- د مرو مؤنث- بیشه-
مرژواند:(مر-ژواند)صفت- (۱)ستومانه- ستومانه- افسرده- وېزاره- (۲)ماله په ملامته اخستنه-
مرژواندے:(مَر-ژوان-دے)صفت- وګورئ مرژواند-
مرستون:(مر-س-تون)اسم- واحد- مذکر- قبر- مقبره- قبرستان- هدیره- کور- لحد- مریستون- مړبتن- (۲)دَ سپورمۍ شپول- (افغانستان)-
مرشومه:(مر-شو-مه)اسم- واحد- مذکر- د مړی د وروستي شپې خیرات-
مربت:(مه-رښت)حاصل مصدر،اسم- مړینه-
مرغدی:(مر-غن-دي)اسم- واحد جمع- مؤنث- بې اتفاقي- نفاق-
مرغوڅن تیا:(مَر-غو-څن-تیا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ مرخپنتیا-
مرغون:(مَر-غون)صفت- مرخپن- مړاوے-
مرغونجا:(مر-غون-جا)صفت- مرغون- مرخپن-
مرغکی:(مَر-غه-کي)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم واښه- یو قسم ګیاه-
مرعوجے:(مر-عون-جے)صفت- وګورئ مرغونجا-
مرعوني:(مه-ره-عو-ني)اسم- واحد جمع- مؤنث- یو بوټے چې په حکیمي دارو کښې پکارولے شي- مېفوسې- ترخه مندوانه- کاکوړه- پوپانو- سائنسي نوم سټرلس کولو سانی تهس CITRULLUS COLOCYNTHIS-
مرغېږن:(مر-غی-ږن)صفت- وګورئ مرغون- مؤنث مرغېږنه-
مرغشے:(مر-غي-شے)اسم- واحد- مذکر- یو جاره دار بوټے-
مرکندے:(مر-کن-دے)صفت- وګورئ مرعوجے-
مرکول:(مر-که-ول)مصدر متعدي- وژل- قتلول-
مرکونکے:(مر-که-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مرکونکي- مؤنث مرکونکې- وګورئ مرکول-
مرکونه:(مر-که-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ مرکول-
مرکېدل:(مر-کې-دل)مصدر لازم- وژل کېدل- قتلېدل- قتل کېدل-
مرکېدنه:(مر-کې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ مرکېدل-
مرکېدونکے:(مر-کې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مرکېدونکي- موںث مرکېدونکې- وګورئ مرکېدل-
مرکېدۀ:(مر-کې-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ مرکېدل-
مرل:(مرل)مصدر لازم- مرکېدل-
مرمسه:(مر-مه-سه)اسم- واحد- مذکر- وګورئ مرغوجا-
مرموجے:(مر-مون-جے)صفت- وګورئ مرمونجا-
مرنتوب:(مه-رن-توب)اسم- واحد- مذکر- مېړنتوب- بهادري- مړانه-
مرنګ:(مه-رنګ)اسم- واحد- مذکر- ماہکے- ملاح-
مرني توب:(مه-ره-ني-توب)اسم- واحد- مذکر- وګورئ مرنتوب-
مرنے:(مه-ره-نے)صفت- (۱)مړنے- بهادر- توروزن- دلاور- باتور- توره بار- سکره- زړۀ ور- (۲)دَ شیخ عبدالقادر جیلاني رحمة الله علیه دَ پاره استعمالېدونکے د احترام نوم- جمع مړني-
مرو:(مرو)اسم- واحد- مذکر- مېړه- خاوند-
مروب:(مه-روب)صفت- خروب- سراب- پېه-
مرزبول:(مه-رو-ه-ول)مصدر متعدي- حرزبول- سپړبول- پټه کول- په اُبو مړږل-

ي" (څی-ږل)، ي"(مي-ره-ول)، ي"(پیا-لی)، [illegible] تفصیل د پاره وګورئ مسرتحات صفحه ۱

www pukhto.net

مړوبونکے(مه-ړو-بېه-وون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع مړوبونکی- مؤنث مړوبونکې- وګورئ مړوبول-

مړوبونه(مه-ړو-بېه-وڼـه)حاصلِ مصدر- وګورئ مړوبول-

مړوبېدل(مه-ړو-بې-دل)مصدرِ لازم- خروبېدل- سېرابېدل- په اُبو مړېدل-

مړوبېدن(مه-ړو-بې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ مړوبېدل-

مړوبېدنګ(مه-ړو-بې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ مړوبېدل-

مړوبېدنه(مه-ړو-بې-دڼـه)حاصلِ مصدر- وګورئ مړوبېدل-

مړوبېدونکے(مه-ړو-بې-دون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع مړوبېدونکی- مؤنث مړوبېدونکې- وګورئ مړوبېدل-

مړوبېدهٔ(مه-ړو-بې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضي استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ مړوبېدل-

مړوج(مَړوَج)صفت- طاقتور- تکړه- مضبوط- زورور-

مړوجتوب(مَړوَج-توب)اسم- واحد- مذکر- دَ طاقتور کېدو حالت- قوت- طاقت-

مړوخوا(مه-رو-خوا)اسم- واحد- مؤنث- د مړو په طرف- مقبره-

مړوس(مَړوس)تابع مهمل- دَ پړوس تابع مهمل-

مړوسه(مړو-سه)اسم- واحد- مؤنث- وړهٔ وړهٔ تاخونه چې په دېوالونو کښې د بول د پاره جوړولے شي-

مړوشپه(مَړو-شپه)اسم- واحد- مؤنث- دَ مړو دَ یاد تازه کولو شپه چې پکښې خېرات کولے شي- دَ مړو شپه-

مړوښه(مَړو-ښه)صفت- (۱)د شتهٔ خاوند ښځه- (۲)وارهٔ شوی ښځه-

مړوښی(مړو-ښی)اسم- واحد- مؤنث- د نر او ښځې تعلقات-

مړول(مه-ړه-ول)مصدرِ متعدی- مړکول- وژل-

مړول(مه-ړه-ول)مصدرِ متعدی- ډېر خوراک ورکول- پکول- په ګېډه مړول-

مړولونے(مړ-ولو-نے)اسم- واحد- مذکر- مړی لمبونکے- مرده شوی- غاسل-

مړون(مه-ړه-ون)حاصلِ مصدر- وګورئ مړول-

مړوند(مړ-وند)اسم- واحد- مذکر- د څنګل نه تر پنجې پورې دَ لاس حصه- لېچه-

مړوندګانه(مړ-وند-ګا-نه)اسمِ مرکب- واحد- مؤنث- هغه پسول چې ښځې ئې په مړوند کښې اچوي- دَ مټ کالے- کړه- بالو- بلوو-

مړوندی(مړ-ون-دی)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ مړونډی-

مړونډی(مړ-ون-ډی)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ مړوندی-

مړونکے(مه-ړه-وون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع مړونکی- مؤنث مړونکې- وګورئ مړول-

مړونګ(مه-ړه-ونګ)حاصلِ مصدر- وګورئ مړول-

مړونه(مه-ړه-وڼـه)حاصلِ مصدر- وګورئ مړول-

مړونے(مه-رو-نے)صفت- په مرګ- مرګ ته نژدې- مرګانی- مرکونے-

مړوهٔ(مه-ړه-وهٔ)حاصلِ مصدر- وګورئ مړول-

مړه(مه-ړه)(۱)تکیه کلام- (۲)شاید دَ مرده معرب-

مړه(مَړه)صفت- دَ مړ تانیث- مړه شوې-

مړه تبه(مَړه-تـَبه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ مړمی تبه-

مړه خوا(مه-ړه-خوا)صفت- موړ- سېرچشمه- موړسترګے-

مړه خوږ(مه-ړه-خوږ)اسم- واحد- مذکر- ډېره بیماری- ډېر تکلیف- ډېر غم- خوږ درد- مړمی-

مړه غوني(مه-ړه-غو-ني)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ مړغوني-

مړه ول(مه-ړه-ول)مصدرِ متعدی- وګورئ مړول-

مرهکه(مَر-هـ-که)اسم- واحد- مؤنث- دَ دق بیماری-

مرهکے(مَر-هـ-کے)صفت- دَ دق مریض- مؤنث مرهکې-

مړمی(مه-ړه-مي)اسم- واحد- مؤنث- مړه خوږ- لوے رنځ- مرګ- تاخون- تمه-

مړمی تبه(مه-ړه-مي-تـَبه)اسم- واحد- مؤنث- د تبې يو قسم چې بدن پکښې سړے سړے وی- مړه تبه-

مړه لونی(مَړه-لو-ني)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ مرهکه-

مړی(مه-ړی)صفت- د مړے جمع-

مړیتا(مَړی-تا)اسم- واحد- مذکر- صافی- ښخونی-

مړيژن(مه-ړی-ژن)صفت- مرکونے- مړژواندے- دَ مرګ په حال کښې- مرګون- مړغونجے-

مړیستن(مَړیس-تن)اسم- واحد- مذکر- وګورئ مړستون- قبرستان-

مړیستون(مَړیس-تون)اسم- واحد- مذکر- وګورئ مړستون-

مړیکه(مړی-که)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ مرهکه-

مړینه(مَړی-نه)اسم- واحد- مؤنث- مرګ-

مړېدل(مه-ړې-دل)مصدرِ لازم- (۱)په خوراک ګېډه ډکېدل- په خېټه مړېدل- سېرابېدل- (۲)مطمئن کېدل- (۳)مالداره کېدل-

مړېدن(مه-ړې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ مړېدل-

مړېدنګ(مه-ړې-دنګ)حاصلِ مصدر- وګورئ مړېدل-

مړېدنه(مه-ړې-دڼـه)حاصلِ مصدر- وګورئ مړېدل-

مړېدونکے(مه-ړې-دون-کے)اسمِ فاعل- واحد- مذکر- جمع مړېدونکی- مؤنث مړېدونکې- وګورئ مړېدل-

مړېدهٔ(مه-ړې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضي استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ مړېدل-

مړی(مه-ړی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)نمری- نوری- (۲)دعوت- میلمستیا-

مړے(مَه-ړے)صفت- (۱)مړ- مرده- (۲) اسم- واحد- مذکر دَ مړی لاش-

مړے(مَړے)اسم- واحد- مذکر- کډ- ګډوړے- مړ-

مز(مز)اسم- واحد- مذکر- هغه مزدوری چې عموماً دَ غلې په شکل کښې ورکولے شي- مزد-

مزاج(م-زاج)اسم- واحد- مذکر- طبیعت- ذهن- جمع مزاجونه-

www.pukhto.net

مزاجاً :(م-زا-جَن)متعلق فعل- د مزاج له لحاظه- په طبیعت-
مزاجدار :(م-زاج-دار)صفت- متکبر- مغرور- غاوره- (فارسی)-
مزاج:(مه-زاج)اسم- واحد- مذکر- ټوته- خنداء- (عربي)-
مزاحمت:(مُ-زا-حه-مَت)اسم- واحد- مذکر- مقابله- ایسارونه- اړی-
مزاحیه:(مه-زا-حي-یه)صفت- مزاح سره متعلق- د ټوټو- ټوقی-
مزار :(مه-زار)اسم- واحد- مذکر- قبر- زیارت- درګاه- (عربي)-
مزارع:(مُ-زا-رع)اسم- واحد- مذکر- زمیندار- دهقان- کاشکار- کاشتکار- (عربي)-
مزائل:(م-زا-ئل)اسم- هغه جنګی وسله چې په سورنو میله لرې په مقرره ځایْ غُرځولے شي- میزائل- (انګریزی)-
مزد :(مُزد)اسم- واحد- مذکر- مز- مزدوری- معاوضه- اُجرت-
مزدک:(مَز-دک)اسم- واحد- مذکر- جماعت- جومات- د نمانځهٔ ځایْ-
مزدکے :(مز-د-کے)اسم- واحد- مذکر- چت- چبوتره-
مزدګرے:(مز-ده-ګـرے)اسم- واحد- مذکر- (۱)په اُجرت باندې کار کونکے- مزدور- (۲)ژرنده ګرے-
مزدور :(مز-دور)اسم- واحد- مذکر- په اجرت کار کونکے- په بیعه کار کونکے- مزدورکار- (فارسي)-
مزدورکار :(مز-دور-کار)اسم- واحد- مذکر- مزدور- خواری کښ-
مزدوری:(مز-دو-ری)اسم- واحد- مؤنث- (۱)په بیعه کار کونه- محنت- مشقت- (۲)د کار مله- د کار په بدل کښې نغدې روپۍ-
مزرکتے :(مزر-کم-تے)اسم- واحد- مذکر- (۱)د زمری بچے- (۲)صفت- تکړه سړے-
مزریتوب:(مزمری-توب)اسم- واحد- مذکر- بهادری- میړانه- مړانه-
مزرے :(ممزمرے)اسم- واحد- مذکر- یو بوټے چې له پاڼو ئې بوټ جوړ ولے شي- ممزرے- نباتاتی نوم نیپنوروهپس ری چی نیا (NANNORRHOPS RITCHIANA)- جمع مزري-
مزرے :(مزمرے)اسم- واحد- مذکر- زمرے- زمرے- امزرے- ازمرے- (۱)د پیشو د خاندان یو مشهور ځناور- زمرے- سائنسي نوم پانتهیرا پاردس (PANTHERA PARDUS)- (۲)د شطرنج د لوبې په شان یوه لوبه چې په ۲۴ کیټیو کولے شي- ازمرے- (۲)صفت- تکړه- بهادر-
مزشیلا :(مزشي-لا)اسم- واحد- مذکر- مشغولا- بحث مباحثه- (عامیانه)-
مزشیلو :(مز-شي-لو)اسم- واحد- مؤنث- مزشیله- مشغولا- خبرې اترې-
مزشیلېدل:(مز-شي-لې-دل)مصدر لازم- مشغولېدل-
مزغاوه:(مز-غا-وه)اسم- واحد- مؤنث- د صابون هغه اُبهٔ چې جامې پکښې وینځلے شوې زی- د صابن ځګ-
مزغے :(مز-غے)اسم- واحد- مذکر- ګټ- حاشیه- پوله- برید-
مزکه:(مز-که)اسم- واحد- مؤنث- ژمکه-
مزکتهو :(مز-که-تهو)اسم- واحد- مذکر- هغه لوښے چې په ژرنده یا د اوړو مشین کښې پروت وي او حق (د داتو اُرولو) پکښې اچولے شي-
مزل:(مه-زل)اسم- واحد- مذکر- (۱)رفتار- سفر- یون- تګ- (۲)فاصله- (۳)مزه اخستل- خوند اخستل- (افغانستان)-
مزمار :(مز-مار)اسم- واحد- مذکر- شپیلۍ- باجه- (عربي)-
مزه:(مه-زه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)خوند- ذائقه- لذت- عیش- خوشحالی- جمع مزې-
مزه چړچه:(مه-زه-چړ-چه)اسم- واحد- مذکر- عیش عشرت- جمع مزې چړچې-
مزه ناک:(مه-زه-ناک)صفت- خوندناک- خوندور- مزېدار-
مزید:(مه-زید)صفت- نور- ډېر- زیات- (عربي)-
مزین:(مُ-زی-یَن)صفت- سینګار شوے- جوړ سمبال- اراسته-
مزېدار :(مه-زې-دار)صفت- خوندناک- مزه ناک-
مزے:(مه-زے)اسم- واحد- مذکر- (۱)اشار- سوتلي- پړے- رسۍ- (۲)سرحد- پوله- حد-
مږ:(مږ)اسم- واحد- مذکر- مږ- ګډ- ګډورے- پسه-
مږک:(مه-ږک)اسم- واحد- مذکر- مږک- مؤنث مږه-
مږکورے:(مږ-کو-رے)اسم- واحد- مذکر- وړوکے مږک- مږکورے- د مږک بچے-
مږکه:(مږ-که)اسم- واحد- مؤنث- مږه-
مږکان:(مږ-ګان)اسم- جمع- مذکر- باڼه- د مږه جمع-
مږوی:(مږ-وی)اسم- واحد جمع- مؤنث- سڼ- مږوے- میږ-
مږه:(مه-ږه)اسم- واحد- مؤنث- د مږک مؤنث- مږه-
مږه:(م-ږه)اسم- واحد- مؤنث- باڼه- (شاعری)-
مږ:(مږ)اسم- واحد- مذکر- (۱)مږ- ګډ- ګډورے- د غره ګډ- (۲)د مږې نر- مږک-
مږک:(مه-ږک)اسم- واحد- مذکر- مږک- د مږې مذکر-
مږکباز :(مه-ږک-باز)اسم- واحد- مذکر- یو مارغهٔ چې مږې خوري- مږک خور-
مږک جړ :(مه-ږک-جړ)اسم- سنګتیا- زرنیخ-
مږک خور :(مږک-خور)اسم- واحد- مذکر- وګورئ مږکباز-
مږک دام:(مه-ږک-دام)اسم- واحد- مذکر- د مږک د نیولو دام- (افغانستان)-
مږک رانه:(مه-ږک-را-نه)اسم- واحد- مؤنث- د مږک سوره-
مږکورے:(مه-ږک-کو-رے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ مږکورے-
مږکورے:(مه-ږک-کو-رے)اسم- واحد- مذکر- وړوکے مږک- مږکورے- مږکورے-
مږک وهونکے:(مه-ږک-وه-ون-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ مږکباز-
مږل:(مه-ږل)مصدر متعدی- مړول- مږل-
مولے:(مه-ولے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع مولی- مؤنث مولې-

ی- (ځی-رل)، ې (مې-رمول)، ئ (پیالې)، ے (تن-دیے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www pukhto net

زګوری مړل۔

مړنه (مه-ړه-نه) حاصل مصدر۔ زګوری مړل۔

مړونکے (مه-ړون-کے) اسم فاعل۔ واحد۔ مذکر۔ جمع مړونکي۔ مؤنث مړونکې۔ زګوری مړل۔

مړه (مه-ړه) اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱) د مړ مؤنث۔ مړه۔ (۲) د غړه کده۔ د مړ مؤنث۔

مړه (مه-ړه) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ ګوړوړے۔ پسه۔

مړیمه (مه-ړی-مه) اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ هغه مړه چې وار ې راوړے زی۔

مس (مس) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ لاس وروړنه۔ په لاس محسوسونه۔ (عربي)۔

مس (مس) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ تانبه۔ سیسه۔

مس (مس) اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ (۱) نااواده کړې جینۍ۔ پیغله جینۍ۔ (۲) استاذه۔ (۳) نرس۔ ام۔ انګریزی)۔

مسا (مسا) اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ مسکا۔ مسکیتوب۔

مساجد (مه-سا-جد) اسم۔ مذکر۔ د مسجد جمع۔ جماعتونه۔

مساحت (مه-سا-حت) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د زمکې د پیمائش علم۔ د زمکې پیمائش۔

مسافر (م-سا-فر) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱) سفر کونکے۔ پردیسی۔ اجنبي۔ (۲) فقیر۔ روېی غښتونکے۔

مسافرت (م-سا-فرت) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱) سفر۔ (۲) فاصله۔

مسافرخانه (م-سا-فر-خا-نه) اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ سرائې۔ د مسافرو د دمې یا شپې تېرولو ځاې۔ د مسافرو د پاتې کېدو ځاې۔

مسافری (م-سا-فری) اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ سفر۔ سیاحت۔

مساکن (مه-سا-کن) اسم۔ مذکر۔ د مسکن جمع۔ مکانونه۔ کورونه۔ (عربي)۔

مساکین (مه-سا-کین) اسم۔ مذکر۔ د مسکین جمع۔ غریبان۔ مسکینان۔ (عربي)۔

مسام (مه-سام) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د وستۍ هغه نرې سورې چې خوله پرې راوځي۔ (عربي)۔

مساوات (م-سا-وات) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ برابري۔ یو شان والے۔ (عربي)۔

مساوی (م-سا-وی) صفت۔ برابر۔ یو شان۔ په یو اندازه۔ (عربي)۔

مسائل (مه-سا-ئل) اسم۔ مذکر۔ د مسئلې جمع۔ لانجې۔ سوالونه۔ (عربي)۔

مسبب (م-سب-بب) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱) سبب جوړونکے۔ سبب پیدا کونکے۔ (۲) د خداې پاک یو صفتي نوم۔ (عربي)۔

مسبب الاسباب (م-سب-بب-ال-اس-باب) اسم صفت۔ واحد۔ مذکر۔ د سببونو جوړونکے۔ خداې پاک۔

مست (مست) صفت۔ په نشه کښې غرق۔ بې هوشه۔ بې خوده۔ مخمور۔ مدهوش۔ دیوانه۔ بې پروا۔ د مستۍ نه ډک۔ (فارسي)۔

مستانه (مس-تا-نه) صفت۔ مست۔ دیوانه۔ (فارسي)۔

مستیا (مست-یا) اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ د ماشومانو جینکو یوه لوبه۔

مستیانه (مست-یا-نه) اسم واحد۔ مؤنث۔ یو قسم واښه۔

مستثنی (مس-تث-نا) صفت۔ جدا کړے شوے۔ بیل کړے شوے۔ ممتاز۔ جدا۔ بیل۔ (عربي)۔

مستحب (مس-تح-حب) صفت۔ خوښ کړے شوے۔ د فقې په علم هغه عبادت چې حضور علیه السلام خوښ کړے وه او پخپله ې هم ادا کړے وه۔ (عربي)۔

مستحسن (مس-تح-سن) صفت۔ خوبز۔ غوره۔ ښه۔ بهتر۔ نیک۔ (عربي)۔

مستحق (مس-تح-حق) صفت۔ حقدار۔ جوګه۔ (عربي)۔

مستحکم (مس-تح-کم) صفت۔ استحکام لرونکے۔ مضبوط۔ پائېدار۔ کلک۔ کوټلے۔ (عربي)۔

مستدام (مس-ته-دام) صفت۔ همېشه۔ دائمي۔ (عربي)۔

مسترد (مس-ته-رد) صفت۔ رد۔ رد شوے۔ نامنظور شوے۔ (عربي)۔

مستری (مست-ری) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ کاریګر۔ استاذ۔ ګلکار۔ (انګریزی)۔

مستزاد (مس-ته-زاد) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱) د شاعرۍ په فن کښې هغه نظم چې هره مصرع ې څخان سره یوه وړه مصرع هم لري۔ (۲۔ معمول) زیاد کړے شوے۔

مستسقی (مس-تس-قي) صفت۔ (۱) اوبۀ غښتونکے۔ تږے۔ چې اوبۀ غواړي۔ (۲) د استسقا مریض۔ (عربي)۔

مستشرق (مس-تش-رق) صفت۔ د مغربي ملکونو عالم چې هغه د مشرقي ژبو په علم قدرت لري۔ جمع مستشرقین۔ (عربي)۔

مستطیل (مس-ته-طیل) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ طول او عرض لرونکے د څلورو ضلعو شکل چې څلور واړه زاویې ې قائمې وي او د مقابل ضلعې ې برابری وي۔ (عربي)۔

مستعار (مس-ته-عار) صفت۔ پور کړے شوے۔ قرض۔ (عربي)۔

مستعد (مس-ته-عد) صفت۔ تیار۔ اماده۔ چمتو۔ چست۔ (عربي)۔

مستعفی (مس-تع-فی) صفت فاعل۔ استعفے ورکونکے۔ (عربي)۔

مستعمل (مس-تع-مل) صفت۔ استعمال شوے۔ په کار راوستے شوے۔ (عربي)۔

مستغرق (مس-تغ-رق) صفت مفعول۔ غرق۔ ډوب۔ لاهو شوے۔ ډوب شوے۔ (۲) ډېر مصروف۔ اخته۔ بوخت۔

مستقبل (مس-تق-بل) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱) راتلونکے وخت۔ راتلونکې زمانه۔ (۲) هغه فعل چې راتلونکې زمانې سره ې تعلق وي۔ (عربي)۔

مستقر (مس-ته-قر) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د قرار کولو ځاې۔ د ایسارېدو ځاې۔ د وسېدو ځاې۔

مستقل (مس-ته-قل) صفت۔ (۱) مضبوط۔ کلک۔ ټینګ۔ پائېدار۔ (۲) ازاد۔ (افغانستان)۔

مستک (مس-تک) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ یو قسم واښۀ چې د غنمو د فصل سره کیږي۔ د نباتاتي نوم د پاره زګوری جمدر۔

مستکي (مس-ته-کی) اسم۔ واحد۔ مذکر۔ چکه ماستۀ۔

رمز (ج-مه ه) ، زورکے (شل) ، پېښ (نو-کا ره) ، رمز (ک ساب) ، جزم (سکون) ، ه (ر-وه) ، ۀ (یو-مي-ده)

www.pukhto.net

مستند:(مس-ته-ند)صفت- تصدیق شوې- منلې شوې- اعتباري- دُ استناد قابل- (عربي)-

مستور:(مس-تور)صفت- پټ- پنهٔ- خفیه- (عربي)-

مستورات:(مس-تو-رات)اسم- جمع- مؤنث- دُ مستوره جمع- ښځې-

مستوره:(مس-تو-ره)صفت/اسم- واحد- مؤنث- (۱)ښځه- (۲)پرده پوښه- (۳)پټه- (۴)دُ مستور مؤنث-

مستول:(مس-ته-ول)مصدر متعدي- (۱)مستي کښې راوستل- نشه کول- (۲)په سر خېژول- ورانول-

مستونکې:(مس-ته-وون-کې)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مستونکي- مؤنث مستونکې- وګورئ مستول-

مستونه:(مس-ته-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ مستول-

مسته:(م-سه-ته)اسم- واحد- مؤنث- لاندي چټه-

مستي:(مس-تي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)نشه- خمار- بې هوښي- د خوشحالي سرکښونه- (۲)غرور-

مستیاره:(مست-یا-ره)اسم- یو قسم سریخ بوټې چې په حکیمي دارو کښې پکارولې شي- آدس-

مستي:(مس-تي)اسم- جمع- مؤنث- ماسته- تومنه شوي- ورلن شوي-

مستېدل:(مس-تي-دل)مصدر لازم- مست کېدل- نشه کېدل- بې هوښه کېدل- په خمار کښې راتلل-

مستېدن:(مس-تي-دن)حاصل مصدر- وګورئ مستېدل-

مستېدنه:(مس-تي-دنه)حاصل مصدر- وګورئ مستېدل-

مستېدونکې:(مس-تي-دون-کې)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مستېدونکي- مؤنث مستېدونکې- وګورئ مستېدل-

مستېدهٔ:(مس-تي-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ مستېدل-

مسټر:(مس-ټر)اسم- واحد- مذکر- د عزت یو خطاب چې په انګلیسي کښې د نوم نه مخکښې وېلې شي- (انګریزي)-

مسجد:(مس-جد)اسم- واحد- مذکر- د سجدې کولو ځای- د نمونځ کولو ځای- جماعت- حمات- جومات- مرد- (عربي)-

مسجع:(م-سج-جع)صفت- هغه عبارت چې د قافیې خیال پکښې ساتلې شوې وي- قافیه بند عبارت- (عربي)-

مسجود:(مس-جود)صفت- سجده کړې شوې- دُ سجدې قابل- دُ خدای پاک بوه نامه-

مسح:(م-سح)اسم- واحد- مؤنث- لاس په یوځای لګونه- په بدن لاس راکښه- مسه- ګتي ږوړونه (عربي)-

مسخر:(م-سخ-خر)صفت- قابو کړې شوې- په قبضه کښې راوستې شوې- تسخیر کړې شوې- (عربي)-

مسخراچي:(مس-خه-را-چي)اسم- واحد- مذکر- مسخرا کوونکې- ټوکمار-
ټوقي- چاړلي-

مسخرګي:(مس-خر-ګي)اسم- واحد- مؤنث- پچوزي- ټوقې ټقالې-

مسخره:(مس-خه-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ټوقه- رشخند- مراق- (۲- صفت)ټوقي- ټوقمار-

مسدس:(م-سد-دس)صفت- د جیومیټرۍ په علم کښې دُ شپږو ضلعو شکل- (۲)د نظم یو قسم چې په هر بند کښې ئې شپږ مصرعې وي- (عربي)-

مسدود:(مس-دود)صفت- بند کړې شوې- منع کړې شوې- (عربي)-

مسرت:(م-سر-رت)اسم- واحد- مذکر- خوشحالي- سوکالي- (عربي)-

مسرف:(مس-رف)صفت- فضول خرچ- اسراف کوونکې- (عربي)-

مسرور:(مس-رور)صفت- خوشحاله- بې غمه- (عربي)-

مسروقه:(مس-رو-قه)صفت- هغه څیز چې غلو وړې وي- پټ کړې شوې څیز- (عربي)-

مسطر:(مس-طر)اسم- واحد- مذکر- (۱)د کرښو وهلو پیمانه- (۲)کرښه- (عربي)-

مسعود:(مس-عود)صفت- نېک بخت- مبارک- بختور- (عربي)-

مسک:(مسک)اسم- واحد- مذکر- دُ غرمني هغه لویه بخڅکې چې اُبهٔ پکښې وړې راوړې شي- مشک-

مسک:(مسک)صفت- (۱)مسېدلې- په مُسکا- په خندا- خندا ته نژدې- (۲)مُسا- مسېدنه- تبسُم- مسکا-

مسکا:(مس-کا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ مُسک دوېمه معنې-

مسکاوو:(مس-کا-وو)صفت- مُسکې کېدونکې- خندېدونکې-

مسکټ:(مس-کټ)اسم- واحد- مذکر- ټوټکه- (انګریزي)-

مسکرات:(مس-ک-رات)صفت- د مسکر جمع- نشئیز څیزونه- مسېکر- (عربي)-

مسکن:(مس-کن)اسم- واحد- مذکر- د وسېدو ځای- وطن- کور- ټیکاڼونه- (عربي)-

مسکو:(مس-کو)صفت- مُسېدونکې-

مسکوټ:(مس-کوټ)اسم- (۱)صلاح مشوره- (۲)پټ سازش- (انګریزي)-

مسکول:(مس-که-ول)مصدر متعدي- مسکې کول- خندول-

مسکونکې:(مس-که-وون-کې)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مسکونکي- مؤنث مسکونکې- وګورئ مسکول-

مسکونه:(مس-که-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ مسکول-

مسکیر:(مس-کیر)اسم- واحد- مذکر- مذکور- دکر- خبرې اترې-

مسکین:(مس-کین)صفت- غریب- محتاج- موتاژه-

مسکینه:(مس-کي-نه)اسم- واحد- مؤنث- یو قسم ووړې چې د ممورو او پیارو نه پخولې شي-

مسکې:(مس-کې)صفت- مؤنث- مکسي- موسېدلې- خنده رویه- په مسکا-

مسکېدل:(مس-کي-دل)مصدر لازم- خندېدل- تبسم کول-

مسکېدن:(مس-کي-دن)حاصل مصدر- وګورئ مسکېدل-

ي: (ښي-رل)۰ ۍ:(مې-ره-ول)۰ ئ:(هیا-لي)۰ ې:(تن-دیي) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

مسکېدنه:(مُس-کې-دَ-نه)حاصلِ مصدر- وګوری: مسکېدل-

مسکېدونکے:(مُس-کې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مسکېدونکي- مؤنث مسکېدونکې- وګوری: مسکېدل-

مسکېدهٔ:(مُس-کې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دَ ماضي استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګوری: مسکېدل-

مسکې:(مُس-کې)صفت- مؤنث- (۱)وګوری: مُسکے- (۲- اسم)خندا کونه-

مسکے:(مُس-کے)صفت- مذکر- متبسم- پهٔ خندا- خندېدونکے-

مسکر:(مس-کَر)اسم- واحد- مذکر- دَ مسو لوښی جوړونکے- دَ تامبې لوښی جوړونکے-

مسګری:(مس-ګَ-ری)اسم- واحد- مؤنث- دَ تامبې دَ لوښو جوړولو کار-

مسل:(مِ-سل)اسم- واحد- مذکر- هغه کاغذونه چې دَ مقدمې کاروائی پرې ليکلے شوی وی- دَ مقدمې ليکلے تفصيل- مثل- فائل-

مسلح:(مُ-سَل-لَح)صفت- وسله بند- ملاترلے- باوسله- (عربی)-

مسلخوان:(م-سل-خَان)اسم- واحد- مذکر- نائب- ريبر- مرستيال-

مسلسل:(مُ-سَل-سَل)صفت/متعلق فعل- پرله پسې- سلسله وار- پهٔ يو مخ- متواتر-

مسلط:(مُ-سَل-لَط)صفت- (۱)مقرر کړے شوے- (۲)قابض- غالب- (عربی)-

مسلک:(مَس-لَک)اسم- واحد- مذکر- لاره- طريقه- عقيده- دستور- قاعده-

مسلم:(مُس-لِم)اسم- واحد- مذکر- مسلمان- دَ اسلام پيرو- (عربی)-

مسلم:(مُ-سل-لَم)صفت- منلے شوے- مکمل- پوره- دَ اعتراض نه پاک-

مسلمان:(مُ-سَل-مَان)اسم- واحد- مذکر- مسلم- دَ اسلام منونکے- جمع مسلمانان-

مسلمانی:(مُ-سل-ما-نی)اسم- واحد- مؤنث- دَ مسلمان مذهب- دَ مسلمان کار-

مسلمه:(مُس-لِ-مه)اسم- واحد- مؤنث- مسلمانه ښځه-

مسلمه:(مُ-سَل-لَ-مه)صفت- منلے شوې- بې شکه-

مسلول:(مَس-لُول)صفت- (۱)دَ سِل مريض- (۲)راګښلے شوے- راايستلے شوے- (عربی)-

مسله:(مُو-سه-له)اسم- واحد- مؤنث- دَ مصلی مغفف- ځائ نماز- جانماز-

مسله:(مه-سه-له)اسم- مؤنث- وګوری: مسئله-

مسلی:(مُ-سه-لي)اسم- واحد- مذکر- جاروکش- خاکروب-

مسمات:(مُ-سم-مات)صفت- (۱)تورے چې دَ ښځو دَ نوم نه وړاندې پهٔ سرکاری کاغذونه کښې ليکلے شی- (۲)نومړې-

مسمار:(مس-مار)صفت- ويجاړ- ويران- وران- نس نس- تباه و برباد-

مسمريزم:(مس-مه-ري-زم)اسم- واحد- مذکر- دَ لسټريا دَ يو عالم ډاکټر مسمر ايجاد کړے علم چې دَ هغې پهٔ ذريعه اثر اچونکے پهٔ معمول دَ خپلې خوښې کار کولے شی-

مسمی:(مُ-سم-ما)صفت- دَ نارينه لهٔ نومه مخکښې ليکلے کېدونکے تورے-

(عربی)-

مسند:(مَس-نَد)اسم- واحد- مذکر- دَ پړی اچولو ځائ- تکيه- تخت- (عربی)-

مسنون:(مَس-نُون)صفت- هغه کار چې حضورِ پاک صلی الله عليه وآله وسلم خپله کړے وی- سنتو نه ثابت- (عربی)-

مسنه:(مُ-سَ-نه)اسم- تبسم کونه- مسکا کونه-

مسواک:(مِس-واک)اسم- واحد- مذکر- دَ غاښونو صفاکولو يو مخصوص لرګے چې سر ئې ميده کړے شوے وی- (عربی)-

مسواکی:(مِس-وا-کی)اسم- واحد- مؤنث- غټې ګوتې پسې ګوته- کټې ګوتې پس ګوته- دَ شهادت ګوته- مسواکه ګوته- مسواکی ګوته-

مسواکی ګوته:(مِس-وا-کې-ګو-ته)اسم- واحد- مؤنث- وګوری: مسواکی-

مسوده:(مُ-سو-وه-ده)اسم- واحد- مؤنث- هغه ليکلی شوی يا ترتيب شوی مواد چې کتابت ئې نهٔ وی شوے- دَ خط کچه مضمون- ليکلی شوې خبره- تجويز- دَ هر ليک وړومبې نسخه- نسخه- (عربی)-

مسور:(مه-سُور)اسم- واحد- مذکر- دَ دالو يو قسم- نسک- نباتاتی نوم اروم هرسوټوم يا مسرلنس ERVUM HIRSUTUMS or CICERENS-

مسول:(مُ-سه-وُل)مصدر متعدی- خندول- مسکول-

مسولے:(مُ-سه-و-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع مسولی- مؤنث مسولې- وګوری: مسول-

مسون:(مُ-سه-وُن)حاصل مصدر- وګوری: مسول-

مسونکے:(مُ-سه-وُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مسونکی- مؤنث مسونکې- وګوری: مسول-

مسونه:(مُ-سه-وَ-نه)حاصل مصدر- وګوری: مسول-

مسوهٔ:(مُ-سه-وهٔ)حاصل مصدر- وګوری: مسول-

مسه:(مه-سه)اسم- واحد- مؤنث- دَ مسح مغفف- وګوری: مسح-

مسهری:(مَس-هه-ری)اسم- واحد- مؤنث- پالنګ- لوئ کټ- چپرکټ-

مسئله:(مس-ئه-له)اسم- واحد- مؤنث- جنجالی خبره- ګرانه يا پيچيده معامله يا خبره- سوال- دينی خبره-

مسئول:(مس-ؤل)صفت- ذمه دار- ذمه دار-

مسئوليت:(مَس-ؤ-لي-يت)اسم- واحد- مذکر- ذمه داری- ذمه داری-

مسی:(م-سي)اسم- واحد- مؤنث- غاښونه رنګونکے يو سفوف چې ښځو به لګولو-

مسی:(م-سي)صفت- لهٔ تانبې جوړ- موسين- مسين-

مسيحا:(مه-سي-حا)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ عيسیٰ عليه السلام لقب- (۲)صفت- ماهر طبيب- (۳)محبوب- (شاعری)- (عبرانی)-

مسيحائی:(مه-سي-حا-ئي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ حضرت مسيح پهٔ شان کار- (۲)کامياب علاج-

مسيحي:(مه-سي-حي)صفت- حضرت عيسیٰ عليه السلام سره منسوبه-

زبر "(خ-بدٔ-ره)"، زورکے "(شَل)"، پېش "(نو-کا-ره)"، زېر "(کِ-تاب)"، جزم "(شکون)"، "ه"(ز-وه)"، "ۀ"(دو-حې-حه)"

www pukhto net

مسیحیت:(مه-سي-حي-يت)اسم- واحد- مذکر- دٙ حضرت عیسٰی علیه السلام دٙ پیروکارانو مذهب- عیسائیت-

مسید:(مه-سید)اسم- واحد- مذکر- دٙ مسجد مغفن- مسجد-

مسیکر:(مه-سي-کر)اسم- واحد- مذکر- وګورئ مسکرات-

مسین:(مٙ-سین)صفت- (۱)وګورئ مسی- (۲)مهین-

مسېدل:(مٙ-سې-دل)مصدرِ لازم- مسکېدل- تبسم کول- خندېدل-

مسېدلے:(مٙ-سې-دهٔ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع مسېدلي- مؤنث مسېدلې- وګورئ مسېدل-

مسېدن:(مٙ-سې-دن)حاصلِ مصدر- وګورئ مسېدل-

مسېدنه:(مٙ-سې-دهٔ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ مسېدل-

مسېدونکے:(مٙ-سې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مسېدونکي- مؤنث مسېدونکې- وګورئ مسېدل-

مسېدهٔ:(مٙ-سې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دٙ ماضي استمراري دٙ واحد غائب صیغه- وګورئ مسېدل-

مسی:(مٙ-سی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- دٙ یو کالي نوم-

مسے:(مه-سے)اسم- واحد- مذکر- نمسے- نوسے-

مش:(مٙش)اسم- واحد- مذکر- دٙ ترخ جېب-

مشابه:(مٙ-شا-به)صفت- پهٔ رنګ- پهٔ شان- لکه- غوندې- ورته- مطابق- (عربی)-

مشابهت:(مٙ-شا-به-هت)اسم- واحد- مذکر- یو شان والے- (عربی)-

مشاده:(مٙ-شا-ده)اسم- واحد- مؤنث- شکل- صورت- نمونه- بېلګه- موشاده-

مشارالیه:(مٙ-شا-رن-اِل-لیه)اسم- واحد- مذکر- هغه چې ورته اشاره کړے شوے وی-

مشاطه:(مه-شا-طه)اسم- واحد- مؤنث- هغه ښځه چې دٙ ناویانو یا دٙ نورو مالدارو ښځو سر ږنځه او ږول سینګار کوی- نایېه-

مشاعره:(مٙ-شا-عه-ره)اسم- واحد- مؤنث- دٙ شاعرانو محفل چې خپل شعرونه پکښې اوروی-

مشاق:(مٙش-شاق)صفت- ډېر مشق کوونکے- کمال یا مهارت لرونکے- ماهر- پوهٔ- هنرمند- تجربه کار- (عربی)-

مشاقی:(مٙش-شا-قي)اسم- واحد- مؤنث- هنر- تجربه- مشق- (عربی)-

مشال:(مه-شال)اسم- واحد- مذکر- (۱)دٙ مشعل مغفن- لاټېن- ډیوه- چراغ- رڼا- شمع- (۲- صفت)ښکلے- ښائسته- (عربی)-

مشالچی:(مه-شال-چي)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه څوک چې بل مشال پهٔ منګښې وړی- مشال لرونکے- مشعل بردار- مشعلچي-

مشاورت:(مٙ-شا-و-رت)اسم- خپلو کښې صلاح مشوره- مشوره- صلاح- مشاوره- (عربی)-

مشاوره:(مٙ-شا-و-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ مشاورت-

مشاهده:(مٙ-شا-هه-ده)اسم- واحد- مؤنث- لیدل- کتل- معائنه- تندارہ- (عربی)-

مشاهره:(مٙ-شا-هه-ره)اسم- واحد- مؤنث- دٙ میاشتې تنخواه- (عربی)-

مشاهیر:(مه-شا-هیر)صفت- دٙ مشهور جمع- مشهور خلق- نومیالی- (عربی)-

مشائخ:(مه-شا-ئخ)اسم- مذکر- دٙ شېخان جمع- دٙ شیخ جمع الجمع- بزرګان- نېکان-

مشبون:(مٙش-بون)اسم- واحد- مذکر- غوبه-

مشت:(مٙشت)اسم- واحد- مذکر- (۱)موټے- چونګ- لپه- (۲)لپ- لپ ځیز- (۳)ګوا- (فارسی)-

مشتاق:(مٙش-تاق)صفت- شوق لرونکے- شوقی- خواهش مند- ارزومند- لېوال- طالب-

مشتاقېدل:(مٙش-تا-قې-دل)مصدرِ لازم- ارزومند کېدل- خواهشمند کېدل- لېواله کېدل-

مشتاقېدنه:(مٙش-تا-قې-دهٔ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ مشتاقېدل-

مشتاقېدونکے:(مٙش-تا-قې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مشتاقېدونکي- مؤنث مشتاقېدونکې- وګورئ مشتاقېدل-

مشتاقېدهٔ:(مٙش-تا-قې-دهٔ)حاصلِ مصدر او دٙ ماضي استمراري دٙ واحد غائب صیغه- وګورئ مشتاقېدل-

مشتبه:(مٙش-ته-به)صفت- چې پهٔ شک کښې وی- چې شک شبه وی پکښې- شکمن- اړنګمن-

مشترک:(مٙش-ته-رک)صفت- ګډ- شامل- شریک- ملګرے- (عربی)-

مشتری:(مٙش-ته-ري)اسم- واحد- مذکر- (۱)خریدار- (۲)دٙ یوې سیارې نوم- (عربی)-

مشت زن:(مٙشت-زن)اسم- واحد- مذکر- موټکی- مټکی- موټک وهونکے-

مشتعل:(مٙش-ته-عل)صفت- (۱)پهٔ غصه کښې- (۲)لمبه شوے- (عربی)-

مشتق:(مٙش-تق)صفت- وتلے شوے- هغه لفظ چې دٙ بل لفظ نه وتلے وی- (عربی)-

مشتکے:(مٙش-ته-کے)اسم- واحد- مذکر- دٙ ژرندې دٙ مالک خپلې دانې چې ژرنده کښې وړولے شی-

مشتمل:(مٙش-ته-مل)صفت- (۱)شامل- یوځائې- شریک- فراګیرنده- (۲)ګډون کوونکے-

مشتوکه:(مٙش-توک-نه)اسم- واحد- مؤنث- استوګه- (افغانستان)-

مشته:(مٙش-ته)صفت- مېشته- مقیم- آباد-

مشته:(مٙش-ته)اسم- واحد- مؤنث- دٙ لرګی نه جوړه دٙ چمیارانو یوه اله چې دٙ څپلو تلې پرې ټاپ کولے شی- وبلی- (فارسی)-

مشتهر:(مٙش-ته-هر)صفت- چې شهرت ورکړے شوے وی- یاد- مشهور-

مشتېدل:(مٙش-تې-دل)مصدرِ لازم- وسېدل- اباېدل- (افغانستان)-

مشتېدنه:(مٙش-تې-دهٔ-نه)حاصلِ مصدر- وګورئ مشتېدل-

مشتېدونکے:(مٙش-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مشتېدونکي-

ګ (ګي-رل)، ږ (ږې-ره-وړل)، ې (یيا-لی)، ے (تن-دے) تفصیل دٙ پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

مؤنث مشتبدونکې- وګورئ مشتېدل-

مشتېدهٔ:(مش-تې-دهٔ)حاصل مصدر او دٔ ماضي استمراري دٔ واحد غائب صيغه- وګورئ مشتېدل-

مشدد:(مُ-شد-دد)صفت- پهٔ کوم ټکي چې دٔ شد علامه وي- هغه حرف چې پرې تشديد وي- نېړلے شوے- (عربي)-

مشر:(مهٔ-شر)صفت- واحد- مذکر- (۱)پهٔ عمر کښې لوئ- دٔ ډېر عمر- (۲)د کور نګران- دٔ کور سربراه- (۳)بزرګ- لوئ- (۴)شريف- رهنما- جمع مشران- (م- سنسکرت)

مشرانه:(مش-را-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ماجب چې قبائيلي مشرانو ته ورکولے شي- (۲)هغه جائېداد چې يو مشر ته دٔ بڼهٔ ژوند تېرولو دٔ پاره ورکولے شي- پټکے- دٔ مشرۍ پهٔ وجه ورکړے شوے جائېداد- جمع مشرانې-

مشرتوب:(مهٔ-شر-توب)اسم- واحد- مذکر- بزرګي- مشري- سرپرستي-

مشرتيا:(مهٔ-شر-تيا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ مشرتوب-

مشرف:(مُ-شر-رف)صفت- چې عزت ورکړے شوے وي- شرف ورکړے شوے- عزتمند- نمانځلے-

مشرق:(مش-رق)اسم- واحد- مذکر- نمرخاتهٔ خوا- نمرخاته-

مشرقي:(مش-ر-قي)صفت- دٔ مشرق سره منسوب- نمرختيز-

مشرک:(مش-رک)اسم- واحد- مذکر- شرک کونکے- خدائ تعالی سره شريک جوړونکے- بت پرست-

مشروالے:(مهٔ-شر-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ مشرتوب-

مشروټ:(مش-روټ)صفت- اسم- واحد- مذکر- کلانکار- مکار- چې خان ته کهٔ واني- خان عټ حسابونکے-

مشروټي:(مش-رو-ټي)اسم- واحد- مؤنث- دٔ مشروټ کار-

مشروط:(مش-روط)صفت- شرط سره متعلق- شرط سره تړلے-

مشروع:(مش-روع)صفت- شرعي ته درست- جائز- روا-

مشري:(مهٔ-شهٔ-ري)اسم-واحد- مؤنث- مشرتوب- عزت- لوئي-

مشـشر:(م-ش-شر)اسم- واحد- مذکر- يو قسم کپړه- دٔ ښې هغه ټاروته چې پهٔ لوپټو حامو او څېرو ګنټو باندې دٔ ښکلا دٔ پاره لګولے شي-

مشعل:(مش-عل)اسم- واحد- مذکر- مشال- رڼا- ډيوه- جمع مشعلونه- (عربي)-

مشغله:(مش-غه-له)اسم- واحد- مؤنث- شغل- مشغولا- مصروفيت- جمع مشغلې- (عربي)-

مشغول:(مش-غول)صفت- مصروف- لګيا- بوخت- پهٔ کار کښې لګېدلے- اخته- (عربي)-

مشغولا:(مش-غو-لا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پهٔ څهٔ کار يا خبرو وخت تېرونه- کاروبار- کار- شغل- مشغله- مصروفيت- (۲)لګيا-

مشغولتيا:(مش-غول-تيا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ مشغولا-

مشغولک:(مش-غو-لک)صفت- هغه ملګ چې هر وخت لوبې کوي- لوبغاړے ملګ- خوش طبع-

مشغولول:(مش-غو-له-ول)مصدر متعدي- مصروف ساتل- پهٔ څهٔ کار اخته کول-

مشغولون:(مش-غو-له-ون)حاصل مصدر- وګورئ مشغولول-

مشغولونکے:(مش-غو-له-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مشغولونکي- مؤنث مشغولونکې- وګورئ مشغولول-

مشغولونه:(مش-غو-له-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ مشغولول-

مشغولېدل:(مش-غو-لې-دل)مصدر لازم- مصروف کېدل- پهٔ څهٔ کار اخته کېدل-

مشغولېدنه:(مش-غو-لې-دهٔ-نه)حاصل مصدر- وګورئ مشغولېدل-

مشغولېدونکے:(مش-غو-لې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع مشغولېدونکي- مؤنث مشغولېدونکې- وګورئ مشغولېدل-

مشغولېدهٔ:(مش-غو-لې-دهٔ)حاصل مصدر او دٔ ماضي استمراري دٔ واحد غائب صيغه- وګورئ مشغولېدل-

مشفق:(مش-فق)صفت- شفقت کونکے- مهرباني کونکے- (عربي)-

مشق:(مشق)اسم- (۱)بيا بيا کونه- مسلسل کونه- يو کار دې مار کونه- (۲)سوال- ګردان- (۳)صبر- مهارت-

مشقت:(م-شق-قت)اسم- واحد- مذکر- محنت- خواري- همت- کار کسب- خواري مزدوري- سخت کار-

مشقتي:(م-شق-قت-تي)صفت- (۱)سخت محنت کونکے- (۲)اسم- واحد- مذکر- جېلونو کښې دٔ اے او بي کلاس قېديانو ته دٔ مشقت دٔ پاره ورکړے قېدي-

مشک:(مشک)اسم- واحد- مذکر- يو قسم عطر- مشک-

مشک:(مشک)اسم- واحد- مذکر- دٔ څرمنې نه جوړ کړوړے چې اُبهٔ پکښې راوړے شي- دٔ اُبو ډکولو څرمينه لوښے- ګودړے-

مشکار:(مش-کار)اسم- واحد- مذکر- وګورئ مېکار- جمع مشکاران-

مشکل:(مش-کل)صفت- ګران- پېچيده- کړکېژن-

مشکې:(مش-کې)اسم- واحد- مذکر- يو قسم وابهٔ چې پهٔ جبو کښې راټو کېږي- نل- کهے- مشکنه- (۲)يو قسم وابهٔ چې پهٔ غرونو کښې شنهٔ کېږي او څاروي ئې خوري جاروګانې ترې هم جوړولے شي- جمع مشکني-

مشکنه:(مش-کهٔ-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)هغه وړه مرۍ چې پکښې سورے وي او پهٔ تار کښې پېړلے شي- جمع مشکنې- (۲)وګورئ مشکې-

مشکنيز:(مش-کهٔ-نيز)صفت- دٔ مشکنو جوړ- (افغانستان)-

مشکور:(مش-کور)صفت- دٔ احسان منته کونکے- شکرګزار- (عربي)-

مشکوري:(مش-کو-ري)اسم- واحد- مؤنث- شکرګزاري- منته-

مشکوړي:(مش-کو-ړي)اسم- واحد جمع- مؤنث- وګورئ کالکنډي- مېکوړي-

مشکوک:(مش-کوک)صفت- پهٔ شک کښې- مشتبه-

www pukhto net

مشکوله:(مَش-کو-له)اسم- واحد- مذکر- وړوکے مشک- مښکوله-

مشکونړی:(مَش-کُون-ړی)اسم- واحد،جمع- مؤنث- (۱)د هوسۍ په ګېډه کښې یوه تېلۍ چې پکښې عطر وی- نافه- (۲)د ماشوم د سر سوچه وېښته- (۳)مشک- (۴)مښکونړی-

www.pukhto.net

نصوص:(نْ-صُوص)اسم- جمع- مذکر- دَ نص جمع- وګورئ نص-

نصیب:(نه-صیب)اسم- مذکر- (۱)قسمت- تقدیر- برخه- نصیبه- (۲)حصه- (۲)حاصل-

نصیبور:(نه-صی-بمور)صفت- بڼه نصیب لرونکے- نصیبي- بختور-

نصیبه:(نه-صی-به)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ نصیب-

نصیبي:(نه-صی-بي)صفت- وګورئ نصیبور- (م- عربي)-

نصحت:(نه-صی-حت)اسم- واحد- مذکر- نېکه مشوره- پند- جمع نصائح او نصیحتونه- (م- عربي)-

نصیر:(نه-صیر)صفت- (۱)امداد کونکے- مرسته کونکے- (۲)دوست- ملګرے- (م- عربي)-

نصیري:(نْ-صے-ري)صفت- د نصیر پیرو- هغه فرقه یا د هغې غړے چې حضرت علی علیه السلام خدائ ګڼي- (م- عربي)-

نضارت:(نه-ضا-رت)اسم- واحد- مذکر- خلا- تازګي- رونق- (م- عربي)-

نضبح:(نضبح)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ مېوې پخوالے- مېوه پخېدنه- (۲)د طب په اصطلاح کښې د فاسدې مادې په نرمولو سره خارجونه- (م- عربي)-

نطاق:(نه-طاق)صفت- خبره کونکے- ویونکے- (م- عربي)-

نطفه:(نُط-فه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مني- دَ انسان اُبه چې اولاد ترې پیدا کېږي- (۲)اولاد-

نطفهٔ حرام:(نُط-فه-ء-حه-رام)صفت مرکب- ناجائزه اولاد- حرامي-

نطق:(نْ-طق)اسم- واحد- مذکر- (۱)د خبرو یا وینا قوت- دَ ګویایي قوت- (۲)خبره- وینا- (۳)سپاسنامه-

نظارت:(نه-ظا-رت)اسم- واحد- مذکر- (۱)کتنه- پام کونه- (۲)ساتنه- نګهاني- محافظت- (۳)د ناظر عهده- (م- عربي)-

نظاره:(نه-ظا-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)لیدنه- نظر اچونه- (۲)سیل- تماشه- ننداره-

نظافت:(نه-ظا-فت)اسم- واحد- مذکر- صفائي- پاکوالے- پاکي- (م- عربي)-

نظام:(ن-ظام)اسم- واحد- مذکر- (۱)بندوبست- انتظام- (۲)سلسله- ترتیب- (۳)دَ ملغلرو لړۍ- (۴)جوړه- بنیاد- بنځ- (۵)ولي کونه- بناسته کونه- جوړونه- (۶)طریقه- چل-

نظامت:(ن-ظا-مت)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ ناظم عهده یا کار- (۲)بندوبست- انتظام-

نظام شمسي:(ن-ظا-م-شم-سي)اسم مرکب- دَ فیثاغورث یوناني نظام په کوم کښې چې نمر دَ عالم مرکز ګرځولے شوے دے-

نظامي:(ن-ظا-مي)صفت- د فوج یا لښکر انتظام کونکے یا ناظم- (م- عربي)-

نظامیه:(ن-ظا-مي-یه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)جنګي فوځ- (۲)د تصوف سلسله چې د حضرت نظام الدین اولیاء رحمة الله علیه سره منسوب ده-

نظائر:(نه-ظا-ئر)اسم- جمع- د نظیر جمع- وګورئ نظیر-

نظر:(نه-ظر)اسم- واحد- مذکر- (۱)د لیدو قوت- بصارت- بینائي- (۲)کاته- کتنه- لیدنه- (۳)غور- فکر- پام- (۴)نګراني- ساتنه- (۵)دَ چا د لیدو په وجه په څهٔ بد څیز، انسان یا خاور وغیره بد اثر کېدنه- (م- عربي)-

نظرباز:(نه-ظر-باز)صفت- (۱)هغه څوک چې په کتو ئ په څهٔ بڼهٔ څیز، انسان یا ځناور وغیره بد اثر پرېوځي- بدنظر لرونکے- لهٔ نظره کونکے- (۲)نظر اچونکے- نېغ نېغ کتونکے- سترګې جنګونکے- (۳)چالاک- مردم شناس-

نظربازي:(نه-ظر-با-زي)اسم- واحد- مؤنث- سترګې جنګونه- نېغ نېغ کتنه- حسن پرستي-

نظربند:(نه-ظر-بند)صفت- هغه چې په نګراني کښې وساتلے شي- پهٔ یو خاص ځائ کښې پابند کړے شوے-

نظربندي:(نه-ظر-بن-دي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پهٔ نګراني کښې ساتنه- پهٔ یو خاص ځائ کښې پابند کونه- لهٔ یو مقرره ځائ نه پهٔ وتو پابندي لګونه- (۲)د جادو عمل- جادوګري-

نظرثاني:(نه-ظر-ثا-ني)اسم مرکب- مؤنث- د اصلاح پهٔ نظر دوباره کتنه- اصلاح کونه- (م- عربي)-

نظرمات:(نه-ظر-مات)اسم مرکب- مذکر- (۱)هغه ګنډکه، تعویذ یا چیړه چې لهٔ بدو سترګو دَ بچ ساتلو پهٔ غرض پهٔ څهٔ څیز پورې یا دَ ماشومانو غاړه کښې یا پښو پورې تړلے شي- (۲)هوه کلمه چې د نظر ماتولو پهٔ وخت بار بار وئیلے شي-

نظرماتے:(نه-ظر-ما-تے)اسم مرکب- مذکر- (۱)د نظر ماتولو عمل- دَ سپېلنیو لوګې کولو یا د دم درما پهٔ ذریعه دَ بد نظر اثر لرې کونه- نظر وچ- (۲)د نظر ماتولو دریعه- سپېلنې، شکرانه، صدقه وغیره-

نظروچ:(نه-ظر-وچ)اسم مرکب- مذکر- وګورئ نظرماتے-

نظري:(نه-ظه-ري)صفت- (۱)لهٔ نظره شوے- هغه چې دَ بدو سترګو اثر پرې شوے وي- (۲)سپک- له نظره غورځېدلے- (۳)هغه چې د پوهېدو د پاره پرې د ډېر فکر او غور ضرورت وي- (۴)ناقص- خراب- (۵)هغه علم چې پکښې د موجوداتو پهٔ تصور بحث کېږي-

نظریاتي:(نظ-ري-یا-تي)صفت- د نظریو یا نظریاتو سره منسوب-

نظریه:(نظ-ري-یه)اسم- واحد- مؤنث- هغه مسئله چې پکښې دَ غور و فکر نه کار واخستے شي- اصول- جمع نظریې نظریات- (م- عربي)-

نظریه ارتقا:(نظ-ري-یه-ء-ار-ت-قا)اسم مرکب- د ډارون هغه نظریه چې هغه پکښې د علم حیاتیات پهٔ رڼا کښې د ذي روحو پیدائش او افزائش ښائي- (م- عربي)-

نظریه اضافیت:(نظ-ري-یه-ء-ا-ضا-فی-یت)اسم مرکب- مؤنث- دَ آئن سټائن

www.pukhto.net

نظریه چې پکښې دا ښئې چې زمان و مکان مطلق حقیقت نه دی بلکې اضافي حیثیت لري- (م- عربي)-

نظم:(نه-ظم)اسم- واحد- مذکر- (۱)بندوبست- انتظام- نظام- (۲)موزون کلام- شعر- (۳)د شاعرۍ یو مخصوص صنف چې کړۍ تسموره لري- (م- عربي)-

نظم و نسق (نظم-و-نه-سق)اسم مرکب- بندوبست- انتظام- (م- عربي)-

نظیر:(نه-ظیر)اسم- واحد- مذکر- (۱)مثال- نمونه- (۲)د لویو عدالتونو فیصله چې د ماتحتو عدالتونو د پاره لار یا دلیل وي- جمع نظائر، نظیرونه- (م- عربي)-

نظیف (نه-ظیف)صفت- پاک- حلال- (م- عربي)-

نعت:(نعت)اسم- واحد- مذکر- (۱)ستائینه- تعریف- مدح- (۲)د حضور صلی الله علیه وآله وسلم په شان کښې د تعریف شعرونه- (م- عربي)-

نعتیه:(نع-تي-یه)صفت- د نعت سره منسوب- د نعت متعلق-

نعره:(نع-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ناره-

نعش:(نعش)اسم- واحد- مذکر- (۱)تابوت- د مړي صندوق- (۲)لاش- مړی-

نعل:(نعل)اسم- واحد- مذکر- وګورئ نال(۲)-

نعلبکے:(نعل-به-کے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ نالبکے-

نعل بند:(نعل-بند)صفت- وګورئ نال بند-

نعل بندي:(نعل-بن-دي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ نال بندي-

نعم:(ن-عم)اسم- جمع- مذکر- د نعمت جمع- وګورئ نعمت- (م- عربي)-

نعم البدل (نع-مل-به-دل)اسم مرکب- مذکر- ښه بدله- ښکه معاوضه- غورېزه عوض- (م- عربي)-

نعمت:(نع-مت)اسم- واحد- مذکر- مال- دولت- خوندور څیزونه- انعام بخښنه- پېرورسنه- د الله تعالی ورکړه- جمع نعم، نعمتونه- (م- عربي)-

نعوذ:(نه-عوذ)کلمه- موږ پناه غواړو- (م- عربي)-

نعوذ بالله:(نه-عو-ذبل-لاه)کلمه- موږ د خدای نه پناه غواړو- خدای مو دې بچ وساتي- د چا دیني بزرګ یا څیز سره د بې ادبۍ په موقعه وېلې شي- (م- عربي)-

نعیم:(نه-عیم)اسم- واحد- مذکر- (۱)نعمت- مال- (۲)نېکي- (۳)لاس رسېدنه- (۴)په انعام کښې ورکړے شوے څیز- (۵)صفت- نعمت لرونکے- د نعمت خاوند-

نغارچي:(نه-غار-چي)صفت- نغاره وهونکے- نغاره غږونکے- نقارچي- ډنډورچي- جمع نغارچیان- (م- فارسي)-

نغاره:(نه-غا-ره)اسم- واحد- مؤنث- ډنډوره- ډمامه- نوبت- نقاره- (م- فارسي)-

نغاړل:(نغا-ړل)مصدر متعدي- وګورئ نغښتل سره د ټولو مشتقاتو-

نغاړی:(نغا-ړی)اسم- واحد- مؤنث- د کپړې یا وښو حلقه چې د کله دروند څیز په سر راوړلو په زحمت په سر اېښودے شي- منځیله- نغوری-

نغامه:(نغا-مه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ مقانه -

نغت:(نغت)اسم- واحد- مذکر- راګرمونه- راپارونه- تحریک- لمسه- لمسون- بغته- نغوته- اشاره-

نغتان:(نغه-تان)صفت- مونکے- اوربدونکے- غوږ نیونکے- نغتاند- نغوتان- معوساند-

نغتاند:(نغه-تاند)صفت- وګورئ نغتان-

نغتل:(نغه-تل)مصدر متعدي- وګورئ نغوتل سره د واړو مشتقاتو-

نغته:(نغه-ته)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ نغت-

نغد:(نغد)صفت متعلق فعل- د قرض ضد- تیار- موجود- لاس په لاس- په موقع حاضر- (عام طور باندې د رقم سره استعمالیږي)- مؤنث نغده- (م- عربي نقد)-

نغدول:(نغ-ده-ول)مصدر متعدي- رقم په موقع تیارول- روپۍ حاضرول او لاس په لاس اخستل- نغدې روپۍ لاس له راوستل- کره کول-

نغدون:(نغ-ده-ون)حاصل مصدر- وګورئ نغدول-

نغدونکے:(نغ-ده-وون-کے)فاعل- جمع نغدونکي- مؤنث نغدونکې- وګورئ نغدول-

نغدونګ:(نغ-ده-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ نغدول-

نغدونه:(نغ-ده-ونه)حاصل مصدر- وګورئ نغدول-

نغدي:(نغ-دي)اسم- واحد- مؤنث- حاضر رقم- موجودې پیسې یا روپۍ- نغدیت-

نغدیت:(نغ-دي-یت)اسم- واحد- مذکر- وګورئ نغدي-

نغدېدل:(نغ-دې-دل)مصدر لازم- روپۍ یا رقم په موقع حاضرېدل او لاس په لاس اخستلے کېدل- نغد رقم لاس له راتلل- کره کېدل- د څه کار یا څیز په بدل کښې نغدې روپۍ راتلل-

نغدېدن:(نغ-دې-دن)حاصل مصدر- وګورئ نغدېدل-

نغدېدنګ:(نغ-دې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ نغدېدل-

نغدېدنه:(نغ-دې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ نغدېدل-

نغدېدونکے:(نغ-دې-دون-کے)فاعل- جمع نغدېدونکي- مؤنث نغدېدونکې- وګورئ نغدېدل-

نغر:(نغر)اسم- واحد- مذکر- نغرد- نغرښت- نغړ- (۱)راکښنه- د زمکې اُبه وغیره جذب کونه- (۲)په یو وار لوی حلقه تېرونه- غړچونه- اېونه- (۳)زغمنه- برداشت-

نغرتل:(نغر-تل)مصدر متعدي- وګورئ نغرل-

نغرد:(نغرد)اسم- واحد- مذکر- وګورئ نغر-

نغردل:(نغر-دل)مصدر متعدي- وګورئ نغرل سره د ټولو مشتقاتو-

نغرښت:(نغر-ښت)اسم- واحد- مذکر- وګورئ نغر-

نغرل:(نغ-رل)مصدر متعدي- نغرول- نغردل- نغرتل- (۱)راکښل- جذب کول- (۲)لوړ خوړل- په یو وار لوی حلقه تېرول- غړچول- اېول- (۳)زغمل-

www.pukhto.net

برداشت کول۔

نغړلے:(نغړ-لے)صفت مفعول۔ جمع نغړلی۔ مؤنث نغړلې۔ وګورئ: نغړل۔

نغړوندونکے:(نغړ-ون-دو-کے)صفت۔ د نغړل صفت۔ وګورئ: نغړل۔

نغړنه:(نغړ-نه)حاصل مصدر۔ وګورئ: نغړل۔

نغړونکے:(نغړ-ون-کے)فاعل۔ جمع نغړونکی۔ مؤنث نغړونکې۔ وګورئ: نغړل۔

نغرے:(نغ-رے نغ-غرے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د اور بلولو ځاے۔ د اخلی پخلی ځاے۔ انغرے۔ اورغالے۔

نغر:(نغر)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ نغر۔

نغراند:(نغ-راند)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ کتنه۔ څارنه۔ انتظار۔ (افغانستان)۔

نغراندے:(نغ-ران-دے)صفت۔ کتونکے۔ څارونکے۔ انتظار کونکے۔ جمع نغراندی۔ مؤنث نغراندې۔

نغړد:(نغړد)صفت۔ (۱)پخنی۔ لتاړ۔ چپټ پیټ۔ ریټ پیټ۔ چپړاخ۔ (افغانستان)۔ (۲)۔ اسم۔ واحد۔ مذکر اوګورئ: نغړ۔

نغړدل:(نغړ-دل)مصدر متعدی۔ وګورئ: نغړل سره د ټولو مشتقاتو۔

نغوزے:(نغوز-زے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د صنوبر یا نښتر د ونې میوه۔ زنغوزے۔ چنغوزے۔ چلغوزے۔ جمع نغوزی۔ نباتاتی نوم پینس جیراردیانه PINUS GERARDIANA۔

نغښت:(نغښت)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ: نغښت۔

نغښتل:(نغښ-تل)مصدر متعدی۔ وګورئ: نغښتل۔

نغښت:(نغښت)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ (۱)قط په قط راټولومه۔ راغندونه۔ د معبتلو عمل۔ نغښت۔ (۲)۔ صفت منطق فعل) ټول۔ لنډ ځیلمې

نغښتل:(نغښ-تل)مصدر متعدی۔ نغاړل۔ نغښتل۔ (۱)قط په قط راټول۔ راغونډول۔ (۲)لنډول۔ مختصر کول۔

نغښتلے:(نغښ-تہ-لے)صفت مفعول۔ جمع نغښتلی۔ مؤنث نغښتلې۔ وګورئ: نغښتل۔

نغښتن:(نغښ-تن)حاصل مصدر۔ وګورئ: نغښتل۔

نغښتنګ:(نغښ-تنګ)حاصل مصدر۔ وګورئ: نغښتل۔

نغښتنه:(نغښ-تہ-نه)حاصل مصدر۔ وګورئ: نغښتل۔

نغښتونکے:(نغښ-تون-کے)فاعل۔ جمع نغښتونکی۔ مؤنث نغښتونکې۔ وګورئ: نغښتل۔

نغښتے:(نغښ-تے)صفت۔ قط په قط راغونډ۔ راټول۔ (۲)مختصر۔ لنډ۔

نغښے:(نغ-ښے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وربل۔ کمڅی۔ کوڅی۔ کوڅۍ۔

نغلاند:(نغ-لاند)صفت۔ (۱)ورسترګی۔ اروارے۔ (۲)مشتاق۔ خواهشمند۔ غښتونکے۔

نغم:(نه-غم)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ: لغم۔

نغم:(نغم)اسم۔ واحد بجمع۔ مذکر۔ (۱)وګورئ: غنم۔ (۲)د اینګرانو او زرګرانو میاټی یا ټبچی۔

نغمه:(نغ-مه)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ نوبه۔ سندره۔ ترانه۔ جمع نغمې۔

نغن:(نغن نه-غن)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ د غنمو روټۍ۔ پوړۍ۔ نغند۔

نغند:(نغند)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ: نغن۔

نغند:(نه-غند)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ ضرر۔ اذیت۔ تکلیف۔

نغوتان:(نغو-تان)صفت۔ وګورئ: نغتان۔

نغوتاند:(نغو-تاند)صفت۔ وګورئ: نغتان۔

نغوتل:(نغو-تل)مصدر متعدی۔ کرمول۔ راپارول۔ لمسول۔ اماده کول۔ نغتل۔ تحریک ورکول۔

نغوتلے:(نغو-تہ-لے)صفت مفعول۔ جمع نغوتلی۔ مؤنث نغوتلې۔ وګورئ: نغوتل۔

نغوتن:(نغو-تن)حاصل مصدر۔ وګورئ: نغوتل۔

نغوتنګ:(نغو-تنګ)حاصل مصدر۔ وګورئ: نغوتل۔

نغوتنه:(نغو-تہ-نه)حاصل مصدر۔ وګورئ: نغوتل۔

نغوتونکے:(نغو-تون-کے)فاعل۔ جمع نغوتونکی۔ مؤنث نغوتونکې۔ وګورئ: نغوتل۔

نغوته:(نغو-ته)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ: نغت۔ جمع نغوتې۔

نغوتے:(نغو-تے)صفت مفعول۔ لمسیدلے۔ راپارېدلے۔ اماده کړے شوے۔

نغور:(نغور)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ تاعه۔ جرمانه۔ د ملامتیا جرم۔

نغوری:(نغو-ری)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ وګورئ: نغاړی۔

نغوړل:(نغو-ړل)مصدر متعدی۔ غور سره اورېدل۔ غوږ کېښودل۔ توجه سره اورېدل۔

نغوړلے:(نغو-ړ-لے)صفت مفعول۔ جمع نغوړلی۔ مؤنث نغوړلې۔ وګورئ: نغوړل۔

نغوړن:(نغو-ړن)حاصل مصدر۔ وګورئ: نغوړل۔

نغوړنه:(نغو-ړ-نه)حاصل مصدر۔ وګورئ: نغوړل۔

نغوړونکے:(نغو-ړون-کے)فاعل۔ جمع نغوړونکی۔ مؤنث نغوړونکې۔ وګورئ: نغوړل۔

نغوړېدل:(نغو-ړې-دل)مصدر لازم۔ غور سره اورېدلے کېدل۔ توجه سره اورېدلے کېدل۔ غوږ کښودلے کېدل۔

نغوښ:(نه-غوښ)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ وګورئ: نخوښ۔

نغوز:(نغوز)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د ابو موری۔ د ابو وېښتلو سوړے۔ د ابو رز۔

نغومل:(نغو-مل)مصدر متعدی۔ نیویول۔

نغومېدل:(نغو-مې-دل)مصدر لازم۔ نیونېدل۔

نغونې:(نه-غو-نې)اسم۔ واحد۔ مؤنث۔ د پیو لوښلو یو قسم مخصوصه جالیداره دونی۔ لوخی۔ پیبی یا دګی۔

نغیل:(نه-غیل)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ د ګنبد یا ګنبت دننه کیر چاپېره هوار ځاے۔ جمع نغیلونه۔

نغے:(ن-غے)اسم۔ واحد۔ مذکر۔ داغ۔ نښه۔ نشان۔ جمع نغی۔

www.pukhto.net

نغار:(ن-غار)اسم- واحد- مذکر- (۱)جاری کېدنه- لاګو کېدنه- (۲)د يو څيز

لۀ بل څيزه وتنه- (م- عربي)-

نفاس:(ن-فاس)اسم- واحد- مذکر- هغه وينه چې د ماشوم له پيدا کېدو نه

پس تر څلوښتو ورځو پورې لۀ ښځې نه څي- (م- عربي)-

نفاست:(ن-فا-سټ)اسم- واحد- مذکر- پاکوالے- صفائي- خوبي- ښۀ والے-

(م- عربي)-

نفاق:(ن-فاق)اسم- واحد- مذکر- بې اتفاقي- پۀ زړۀ کښې يو څۀ او پۀ خلۀ

بل څۀ- عداوت- پټه دشمني- (م- عربي)-

نفت:(نه-فت)اسم- واحد جمع- مذکر- (۱)د خاورو تېل- (۲)ساروړ-

(م- فارسي)-

نفتالين:(نف-تا-لين)اسم- جمع- مذکر- يو قسم بدبويه دارو چې لۀ تارکولو

وېستے شي او د پتنګانو وژلو دپاره بکارولے شي- مانېورکاربن-

نفر:(نه-فر)اسم- واحد جمع- مذکر- کس- سړے- بنده- (۲)له درېو نه تر

لسو کسانو پورې- (م- عربي)-

نفرت:(نه-فرت)اسم- واحد- مذکر- کرکه- ناخوښي- کراهت- (م- عربي)-

نفري:(نه-ري)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د کسانو پۀ حساب کار کونکيو پورې- د

مزدورانو ټولے- (۲)دياړی- د مزدور د ورځې اُجرت يا کار- مزدوري-

(م- عربي)-

نفرين:(نف-رين)اسم- واحد- مذکر- ښېره- بددعا- لعنت- غندنه-

(م- عربي)-

نفس:(نه-فس)اسم- واحد- مذکر- (۱)ساه- دم- (۲)ساعت- ګړی-

لحظه-(م- عربي)-

نفس:(نفس)اسم- واحد- مذکر- (۱)ځان- روح- ذات- وجود- (۲)حقيقت-

اصل- اصليت- (۳)خلاصه- لب لباب- (۴)ذکر- عين- (۵)د ژوند وجود،

بدن- (۶)د بدکار خواهش-

نفس اماره:(نف-س-ام-ما-ره)اسم مرکب- مذکر- هغه انساني خواهش چې

سړے پۀ بدکار رااړوي- بدی طرف ته مائله کونکے خواهش-

نفسانفسي:(نف-سا-نف-سي)اسم مرکب- ځان ځاني- د خپل خپل نفس فکر-

خپل خپل غم کونه- نفسي نفسي-

نفساني:(نف-سا-ني)صفت- د نفس سره منسوبه- د نفس متعلق-

نفس پرست:(نفس-په-رست)صفت- د نفس منونکے- عيش و عشرت کونکے-

عياش- نفس پرور-

نفس پرستي:(نفس-په-رس-تي)اسم مرکب- مؤنث- د نفس منه- عيش و

عشرت کونه- عياشي-

نفس پرور:(نفس-پر-ور)صفت- وګورئ نفس پرست-

نفسي نفسي:(نف-سي-نف-سي)اسم مرکب- مؤنث- وګورئ نفسانفسي-

نفع:(نه-فع)اسم- واحد- مؤنث- د نقصان ضد- ګټه- فائده- امدن-

نفقه:(نه-فه-قه)اسم- واحد- مؤنث- د کور خرڅه- د کور ماته ګډه-

د مال بچ خرڅه- (م- عربي)-

نفل:(نه-فل)اسم- واحد- مذکر- هغه (عبادت) چې واجب نۀ وي بلکې د ثواب

د پاره وکړے شي- نافله-

نفلي:(نف-لي)صفت- د نفل سره منسوبه-

نفوذ:(ن-فوذ)اسم- واحد- مذکر- پکښې اثر کونه- دننه اثر کونه-

(م- عربي)-

نفور:(ن-فور)اسم- واحد- مذکر- نفرت کونه- بده کونه- (م- عربي)-

نفور:(نه-فور)صفت- نفرت کونکے- بده کونکے- نفير- متنفر-

نفوس:(نه-فوس)اسم- جمع- مذکر- (۱)د نفس يعني روح جمع- نفسونه-

روحونه- ذاتونه- (۲)کسان- نفري چې ځان ځان له شمار کړے شي- تنان-

نفي:(نه-في)اسم- واحد- مؤنث- د اثبات ضد- نه- انکار-

نفير:(نه-فير)صفت- (۱)نفرت کونکے- نفور- متنفر- کرکه کونکے- (۲)هغه

غږ چې پۀ څۀ کار کښې مخکښې مخکښې کيږي- (۳)هغه اواز چې د ودۀ

سړه لۀ خلې يا سپېړمو خېژي- (۴)سرنا- توروی- (۵)فرياد- ژړا-

واويلا- (م- عربي)-

نفيري:(نه-في-ري)اسم- واحد- مؤنث- سُرنا- توروی- (م- عربي)-

نفيس:(نه-فيس)صفت- ښۀ- پاک- غوره- قيمتي- د اوچتې درجې- (م- عربي)-

نقاب:(نه-قاب)اسم- واحد- مذکر- د ښځو د مخ پټولو پرده- بُرقه-

پرونے- جمع نقابونه- (م- عربي)-

نقاد:(نه-قاد)صفت- تنقيد کونکے- د څۀ څيز ښۀ او بد ظاهرونکے- کره او

کوټه معلومونکے- جمع نقادان-

نقارچي:(نه-قار-چي)صفت- وګورئ نغارچي-

نقاره:(نه-قا-ره)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ نغاره-

نقاش:(نه-قاش)صفت- (۱)ګلکاري کونکے- نقش و نګار جوړونکے-

(۲)تصويرونه جوړونکے- مصور- (م- عربي)-

نقاشي:(نه-قا-شي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ګلکاري- نقش و نګار جوړونه-

(۲)مصوري- د تصويرونو جوړولو کار-

نقاهت:(نه-قا-هت)اسم- واحد- مذکر- زړۀ بدوالے- ورانه- خفګان-

(م- عربي)-

نقاط:(ن-قاط)اسم- جمع- مذکر- د نقطې جمع- وګورئ نقطه- (م- عربي)-

نقال:(نه-قال)صفت- نقل کونکے- پېښې کونکے- نقلي- پېښې کر- جمع

نقالان- (م- عربي)-

نقالي:(نه-قا-لي)اسم- واحد- مؤنث- نقل کونه- پېښې کونه- پېښې ګري-

نقاهت:(نه-قا-هت)اسم- واحد- مذکر- کمزوروتيا- ناتواني- (م- عربي)-

نقائص:(نه-قا-ئص)اسم- جمع- مذکر- د نقص جمع- عيبونه- خامي-

(م- عربي)-

نقب:(نه-قب)اسم- واحد- مذکر- هغه سورے چې د غلا پۀ غرض د چا پۀ

دوال کښې وکړے شي- کنډر-

www.pukhto.net

نقب زن:(نه-قب-زن)صفت- د غلا په غرض دَ چا په دېوال کښي سورے کوونکے- کنهر کوونکے- غل-

نقب زني:(نه-قب-زَ-ني)اسم مرکب- مؤنث- دَ غلا په غرض دَ چا په دېوال کښي سوُرے کونه- کنهر کونه- غلا کونه-

نقد:(نـقـدْ)صفت- (۱)دْ قرض ضد- وګوری: نـقـد- (۲- اسم- واحد- مذکر)کتنه- کره کوټه معلومونه-

نقره:(نُق-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)سپین زر- چاندی- (۲)هر هغه څیز چي سپین وی- (۳)سپین اس- (م- عربی)-

نقش:(نقشْ)اسم- واحد- مذکر- (۱)صورت- تصویر- (۲)ګلکاری- بوټی ګلونه جوړونه- (۳)هغه نوم یا عبارت چي په ټاپه جوړ کړے شوے وی- مُهر- ټاپه- چاپ- (۴)درک- نام و نشان- (۵)تعویذ چي پکښي عددونه یا شاني وی- نښه- علامت- (۶)خیال- تصور- (۷)اثر- تاثیر- (۸)جادو- منتر- بوټکه- (۹)اُپره لیک- (۱۰)هغه کږه خط چي ماشومانو ته په تختي اچولے شي- جمع نقشونه- نقوش-

نقشبندیه:(نقش-بن-دی-یه)اسم- واحد- مؤنث- دَ تصوف یوه سلسله چي دَ حضرت خواجه بهاالدین رحمة الله علیه نه راروانه ده-

نقش و نګار:(نقش-و-ن-ګارْ)اسم مرکب- مذکر- دَ بوټیو او ګلونو جوړولو کار- ګلکاری- د ښکاری کار-

نقشه:(نق-شه)اسم- واحد- مؤنث- نخچه- نخښه- (۱)تصویر- خاکه- (۲)صورت- شکل- مخ- (۳)حُلیه- خدوخال- کرهٔ وړه- (۴)نمونه- مثال- (۵)سانچه- قالب- (۶)حال- کیفیت- عالم- (۷)طور- طریقه- (۸)فهرست- (م- فارسی)-

نقشه کشی:(نَق-شه-کَه-شي)اسم مرکب- مؤنث- نقشه راکښنه- نقشه جوړونه- د نقشې د جوړولو یا ترتیبولو کار-

نقص:(نقص)اسم- واحد- مذکر- کمے- خامی- عیب- بدرالے- خرابوالے- نقصان- مرق- جمع نقصونه- (م- عربی)-

نقصان:(نُق-صان)اسم- واحد- مذکر- (۱)کمے- خامی- نقص- عیب- کوتاهی- (۲)تاوان- زیان- خساره- (۳)تباهی- بربادی- ضیاع- (۴)تکلیف- درد- جمع نقصانونه- نقصانات- (م- عربی)-

نقصانی:(نُق-صا-نی)صفت- د نقصان نه ډک- نقصان رسونکے- وګوری: نُقصان-

نقض:(نقض)اسم- واحد- مذکر- ماتونه- ماتېدنه- ورانے- (م- عربی)-

نقض عهد:(نَق-ض-عه-هد)اسم مرکب- وعده ماتېدنه- وعده ماتونه- بې زُبی- وعده خلافی- لهٔ خپل عهد نه اوړېدنه-

نقطه:(نق-طه)اسم- واحد- مؤنث- ټکے- مرکز- صفر-

نقل:(نه-قل)اسم- واحد- مذکر- (۱)لهٔ یوهٔ ځایه بل ځایْ ته تلنه- تبدیلی- بدلون- (۲)لهٔ یوهٔ کاغذه بل کاغذ ته اړونه- (۳)نمونه- نظیر- مثال- (۴)لطیفه- (۵)حکایت- بیان- روایت- (۶)پېښې- (۷)دَ مقدمې کاغې چي لهٔ عدالته راووېستلے شي- جمع نقلونه- نقول- (م- عربی)-

نـقـلـچی:(نـه-قـل-چـي)صفت- د نـقـال یـا نقلی اسم تصـغیر- وګـوری: نـقال-

نقل نویس:(نه-قل-نه-ویس)صفت- نقل لیکونکے- د عدالت محرر-

نقل نویسي:(نه-قل-نه-وی-سي)اسم مرکب- دَ نقل لیکلو یا کولو کار- منشی توب- محرری-

نقلول:(نَق-له-وَل)مصدر متعدی- (۱)لهٔ یوهٔ ځایه بل ځایْ ته لېږل- (۲)لهٔ یوهٔ کاغذه په بل کاغذ لیکل- (۳)حکایت کول- روایت کول- بیان کول-

نقلون:(نق-له-وَن)حاصل مصدر- وګوری: نقلول-

نقلونکے:(نق-له-وون-کے)فاعل- واحد- مذکر- جمع نقلوُنکی- مؤنث نقلونکې- وګوری: نقلول-

نقلونګ:(نق-له-وَنګ)حاصل مصدر- وګوری: نقلول-

نقلونه:(نق-له-وَنه)حاصل مصدر- وګوری: نقلول-

نقلی:(نَق-لي)صفت- (۱)وګوری: نقال- (۲)دْ اصلی ضد- جعلی-

نقلیه:(نق-لی-یه)صفت- دْ نقل سره منسوب- دَ نقل سره متعلق-

نقلېدل:(نَق-لې-دل)مصدر لازم- (۱)لهٔ یوهٔ ځایْ بل ځایْ ته تلل- (۲)لهٔ یوهٔ کاغذه په بل کاغذ لیکلے کېدل- (۳)حکایت کېدل- روایت کېدل- بیانېدل-

نقلېدن:(نق-لې-دَن)حاصل مصدر- وګوری: نقلېدل-

نقلېدنګ:(نق-لې-دَنګ)حاصل مصدر- وګوری: نقلېدل-

نقلېدونکے:(نَق-لې-دوُن-کے)فاعل- واحد- مذکر- جمع نقلېدونکی- مؤنث نقلېدونکې- وګوری: نقلېدل-

نقلېدهٔ:(نق-لې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګوری: نقلېدل-

نقود:(نَ-قود)اسم- جمع- دْ نقد جمع- وګوری: نقد-

نقوش:(نَ-قوُش)اسم- جمع- دْ نقش جمع- وګوری: نقش-

نقول:(نَ-قول)اسم- جمع- د نقل جمع- نقلونه- وګوری: نقل-

نقی:(نه-قي)صفت- پاک- صفا- سوچه- خالص- (م- عربی)-

نقیب:(نه-قیب)صفت- (۱)د قوم مشر- سردار- (۲)د خلقو د نسبونو او ذاتی حالاتو علم لرونکے- (۳)تشهیر کوونکے- خلق خبروُنکے- ډنډورچی- (۴)تعریف کوونکے- مدح خوان- (۵)د شاهی سورلی نه وړاندې وړاندې اواز کوونکے- چوبدار- (۶- اسم- واحد- مذکر)شپلی- (م- عربی)-

نقیصه:(نه-قی-صه)صفت- کمزورے- ناتوان- ضعیف- (م- عربی)-

نکات:(ن-کات)اسم- جمع- دْ نکته جمع- نکتې- باریکی- (۲)هغه خبرې چي هر څوک پرې نهٔ پوهېږی-

نکاح:(ن-کاح)اسم- واحد- مذکر مؤنث- دْ شریعت مطابق دَ ملک او حیثی سرون- زادهٔ- عقد-

نکاح نامه:(ن-کاح-نا-مه)اسم مرکب- هغه کاغذ چي د نکاح د وخت فیصله پرې لیکلے شوې وی-

ئ: (ئې-رل)- ئ:(هې-ره-ول)- ئ:(یها-لی)- ئر:(س- ر)- تفصیل د پاره وګوری: تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

نکاحي:(ن-کا-حي)صفت- د نکاح سره منسوب- د نکاح متعلق-

نکاس:(ن-کاس)اسم- واحد- مذکر- (۱)لۀ کوره د بهر تلو لاره- (۲)د اُبو د بهر وتو ځایَ یا لار- (۳)لۀ ځا د روپیو یا پیسو وصولولو لار یا صورت-

نکاسي:(ن-کا-سي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ مال و اسباب وتنه، خرڅېدنه- (۲)اېرنه- برآمد- روانګي- (۳)لۀ ښاره بهر تلنه یا وتنه- (۴)لۀ ځا نه روپۍ، پیسې وصولېدنه- (۵)دَ زمکې د هغه محصول میزان چې دَ زمکې مالک ئې له کرونده ګره وصول کړي-

نکبت:(نک-بت)اسم- واحد- مذکر- غریبي- مفلسي- بدحالي- (م- عربي)-

نکته:(نک-ته)اسم- واحد- مؤنث- (۱)باریکي- ژوروالے- (۲)باریکه خبره- ژوره خبره- (۳)د اس دَ خلې څرمن- جمع نُکتې، نکات-

نکته چین:(نک-ته-چین)صفت- نکتې راوېستونکے- باریکي لټونکے- خامي راوېستونکے-

نکته چیني:(نک-ته-چي-ني)اسم مرکب- مؤنث- نکتې راوېستنه- باریکي لټونه- خامي راوېستنه-

نکټائي:(نک-ټا-ئي)اسم- واحد- مؤنث- د کپړې پټۍ چې لۀ مرۍ نه چاپېره دَ قمیص کالر سره تړلے شي- (م- انګریزي- NECKTIE)-

نکره:(نه-ک-ره)صفت- د یو قسم د ډېرو څیزونو مشترکه نامه لکه مېز، کرسي، کتاب وغیره-

نکریزه:(نک-ري-زه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ نکریزې-

نکریزې:(نک-ري-زې)اسم- جمع- مؤنث- یو قسم بوټے او دَ هغې پاڼې چې عام طور سره دغه پاڼې وچې کړے شي او بیا وړۀ کړے شي چې زنانه ئې د پښو لاسونو د سرۀ کولو پکار راولي- حنا- نکریزه نباتاتي نوم LOWSONIA ALBA or L. INERMIS or L. SPINOSA-

نکرے:(نک-رے)اسم- واحد- مذکر- یو قسم مرض چې د بدن متاثره څرمن تکه سپینه کړي- برص-

نکړې نکړې:(نک-ړې-نک-ړې)اسم مرکب- (۱)نۀ منل- انې بانې- پېل- ځنډ- انکار-

نکم:(نه-کم)اسم- واحد- مذکر- ناز- ادا- نخره- غمزه-

نکو:(ن-کو)صفت- د نېکو مخفف- ښه- نېک-

نکوفرجام:(ن-کو-فر-جام)صفت- نېک انجام- نېک- نېک فرجام- (م- فارسي)-

نکومحضر:(ن-کو-مح-ضر)صفت- ښه خوئ لرونکے- نېک خصلت-

نکوني:(ن-کو-ني)اسم- واحد- مؤنث- ښه والے- نېکي- (م- فارسي)-

نکهت:(نک-هت)اسم- واحد- مذکر- د ګلونو بوئ- خوشبوئي- جمع نکهتونه- (م- فارسي)-

نکیر:(نه-کیر)اسم- واحد- مذکر- پۀ قبر کښې دَ مړي سره سوال و جواب کونکې فرښته- (م- عربي)-

نکیرین:(نه-کي-رين)اسم- جمع- مذکر- هغه دواړه فرښتې چې پۀ قبر کښې د مړي سره سوال و جواب کوي-

نګ:(نګ)اسم- واحد- مذکر- غمے- نګینه- نګین- جوهر-

نګار:(ن-ګار)اسم- واحد- مذکر- (۱)تصویر- نقش- (۲)بُت- (۳)محبوب- معشوق- (۴)ږول- سنګار- (۵)نکریزې- دَ نکریزو چاپ-

نګارخانه:(ن-ګار-خا-نه)اسم مرکب- د تصویرونو ځایَ، مکان-

نګاسه:(ن-ګا-سه)اسم- واحد- مؤنث- پټې یا غلې غلې خبرې- ګونګسے- ګنګوسے- جمع نګاسې-

نګاه:(ن-ګاه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)لیدنه- نظر- (۲)دَ لیدو قوت- بصارت- بینائي- (۳)سترګه- (۴)پېژندګلو- شناخت- (۵)پام- توجه- مهرباني- (۶)مدارا- نظاره- (۷)نګراني- نظربندي- (۸)امید- یقین- توقع- طمع- (م- فارسي)-

نګاهبان:(ن-ګاه-بان)صفت- پام لرونے- حفاظت کونکے- نګران- څوکي کونکے- محافظ- نګهبان- (م- فارسي)-

نګاهباني:(ن-ګاه-با-ني)اسم- واحد- مؤنث- پام لرنه- حفاظت کونه- څوکي- نګراني- څوکیداري- نګهباني- (م- فارسي)-

نګر:(نه-ګر)اسم- واحد- مذکر- ښار- کلے- قصبه- بلدیه-

نګران:(نګ-ران)صفت- کتونکے- پام کونکے- محافظ- نګاهبان- (م- فارسي)-

نګراني:(نګ-را-ني)اسم- واحد- مؤنث- کتنه- پام لرنه- حفاظت- نګاهباني-

نګښے:(نګ-ښے)اسم- واحد- مذکر- دَ زنانو د تندي دراړو پېرو ته کمڅې کړي وېښتۀ-

نګلے:(نګ-لے)اسم- واحد- مذکر- پخکړے- ترکاري- سالن- لاوڼ- نکولے-

نکورے:(نه-کو-رے)صفت- ړوند- نابینا- جمع نکوري-

نګوړے:(نه-ګو-ړے)اسم- واحد- مذکر- بادرنګ- ترېوړے- دانګوړے- نباتاتي نوم کوکومس سي تي وس یا پو ټیلي سیمس (CUCUMIS SATIVUS or CUTILISSIMUS)- جمع نګوړي- (افغانستان)-

نکوس:(نکوس)اسم- واحد- مذکر- تصویر- عکس- فلم- نکوش-

نکوسار:(نه-کو-سار)صفت- وګورئ نګونسار-

نکوښ:(نکوښ)اسم- واحد- مذکر- د یوې پښې کار نۀ کونه- د یوې پښې د معذورۍ حالت- ګډوالے- ګډتوب-

نکوښل:(نکو-ښل)مصدر متعدي- وګورئ نکوښول-

نکوښول:(نکو-ښول)مصدر متعدي- پۀ یوه پښه بېکاره کول- پۀ یوه پښه معذورول- نکوښل- ګډول-

نکوښون:(نکو-ښون)حاصل مصدر- وګورئ نکوښول-

نکوښونکے:(نکو-ښون-کے)فاعل- جمع نکوښونکي- مؤنث نکوښونکې- وګورئ نکوښول-

نکوښونګ:(نکو-ښونګ)حاصل مصدر- وګورئ نکوښول-

نکوښونه:(نکو-ښو-نه)حاصل مصدر- وګورئ نکوښول-

نکوښېدل:(نکو-ښې-دل)مصدر لازم- پۀ یوه پښه ګډېدل، بېکاره کېدل- پۀ یوه پښه معذورېدل- ګډېدل-

زبر "(غ-سه-ره)، ووړکے"(شل)، "پېش (نو-کا-سره)، "زېر"(ک-تاب)، "جزم"(شکون)، "ه"(ز-ړه)، "ۀ"(يو-سبي-ده)

www.pukhto.net

نکوښېدن:(نګو-ښې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ نګوښېدل-

نکوښېدنګ:(نګو-ښې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ نګوښېدل-

نکوښېدنه:(نګو-ښې-دَنَه)حاصل مصدر- وګورئ نګوښېدل-

نکوښېدونکے:(نګو-ښې-دُون-کے)فاعل- جمع نکوښېدونکي- مؤنث نکوښېدونکې- وګورئ نکوښېدل-

نکوښېده (نکو-ښې-دَهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ نکوښېدل-

نګون:(نه-ګون)صفت- (۱)سکور یا سرښکته کښه پورته خوړند- اپوټه- اوېزان- نګوسار- نګوسار- (۲)کوږ- راکوږ-

نګوسار:(نه-ګون-سار)صفت- نګوسار- نګون- اپوټه- سرښکته کښه پورته اوېزان-

نګه:(نه-ګه)صفت- سُوچه- پاک- خالص- صفا-

نګهبان:(ن-ګه-بان)صفت- وګورئ نګاهبان-

نګهباني:(ن-ګه-با-ني)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ نګاهباني-

نګهت:(نګ-هت)اسم- واحد- مذکر- وګورئ نکهت-

نګین:(نه-ګین)اسم- واحد- مذکر: قیمتي کاڼے- غمے- نګ- نګینه- جوهر- (م- فارسي)-

نګینه:(نه-ګی-نه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ نګین-

نل:(نَل)اسم- واحد- مذکر- دَ کښې په شان بندونه لرونکے بوټے چې منځ ېې تش یا پوچ وي- نچه- نے- نمچه- نباتاتي نوم ارونډو ډونکس (ARUNDO DONAX)- جمع نلونه-

نلکه:(نل-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د اوسپنې یا پلاسټک نه جوړه نلۍ- (۲)د نو سمه-

نلګس:(نل-ګس)اسم- واحد- مذکر- وګورئ نرګس-

نلګے:(نل-ګے)اسم تصغیر- د نل تصغیر- وګورئ نل- جمع نلګي-

نلوب:(نه-لوب)صفت- وګورئ نروب-

نله:(نه-له)اسم- واحد- مؤنث- (۱)نلۍ- د اوسپنې، لرګي، پلاسټک وغیره نه جوړ نل نُما څیز- (۲)د څرمنې مشک چې دَ تېلو دَ اوړلو راوړلو دَ پاره بکارولے شي- څوښکه- (۳)د پښې لوئ هډوکے- (۴)شپېلۍ-

نلۍ:(نه-لۍ)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وګورئ نله ووړومبنۍ معنٰی- شپېلۍ-

نلے:(نه-لے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ پښې یا دَ لاس لوئ هډوکے- (۲)د هډوکي مغز- جمع نلي-

نم:(نَم)صفت عددي- نهم- د اتم او لسم تر مینځه حېثیت لرونکے-

نم:(نَم)اسم- واحد- مذکر- لوندوالے- تړوالے- رطوبت- (۲)حیا- شرم- لحاظ- (۳- صفت)لوند- تر-

نما:(نُ-ما)صفت- لاحقه- چې دَ ښودونکي یا ظاهروونکي په معنٰی کښې استعمالیږي لکه قبله نما وغیره- (۲)د "غندې" یا "ورته" په معنٰی کښې هم استعمالیږي لکه انسان نما، حیوان نما وغیره- (م- فارسي)-

نماړپښین:(نماړ-په-ښین)اسم- واحد- مذکر- لهٔ غرمې نه پسته وخت- دَ غرمې او نمازیګر تر منځه وخت- ماسپښین- نماسپښین-

نماړخښ (نماږ-خ-تَن)اسم- واحد- مذکر- دَ شپې ووړومبنۍ برخه- لهٔ نماښام نه پس وخت- ماسختن- نماسختن- ماخوستن-

نماړدیګر:(نماږ-دی-ګر)اسم- واحد- مذکر- د ورځې وروستنۍ برخه- دَ نماړپښین او نماښام تر منځه وخت- نماړیګر- ماړیګر-

نماړی:(نما-ړی)صفت- هغه چې نمونځ پرې کېدے شي- پاک- نمانځۍ-

نماړیګر:(نما-ړی-ګر)اسم- واحد- مذکر- وګورئ نماږدیګر-

نماست:(نماست)صفت- وګورئ لماست-

نماستل:(نماس-تل)مصدر لازم- وګورئ لماستل سره دَ واړه مشتقاتو-

نماستېدل:(نماس-تې-دَل)مصدر لازم- وګورئ لماستل سره دَ ټولو مشتقاتو-

نماستے:(نماس-تے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لماسته-

نماښام:(نما-ښام)اسم- واحد- مذکر- وګورئ لماښام-

نماښامے:(نما-ښا-مے)صفت- ماښامے- (۱)د نماښام یا لماښام سره منسوب- د نماښام متعلق- (۲- اسم- واحد- مذکر)څه نماښام یا لماښام-

نماک:(نماک)اسم- واحد- مذکر- رنګ- پول- شان-

نمانځل:(نمان-ځل)مصدر متعدي- (۱)کول- خاص ورځ یا تقریب سر ته رسول- (۲)پالل- عزت ورکول- پالنه کول-

نمانځلے:(نمان-ځلے)صفت معقول- جمع نمانځلي- مؤنث نمانځلې- وګورئ نمانځل-

نمانځن:(نمان-ځن)حاصل مصدر- وګورئ نمانځل-

نمانځنګ:(نمان-ځنګ)حاصل مصدر- وګورئ نمانځل-

نمانځنه:(نمان-ځنه)حاصل مصدر- وګورئ نمانځل-

نمانځونکے:(نمان-ځون-کے)فاعل- جمع نمانځونکي- مؤنث نمانځونکې- وګورئ نمانځل-

نمانځوښے:(نمان-ځو-ښے)صفت- (۱)دَ نمانځل صفت- وګورئ نمانځل- (۲)مونځ کونکے- نمونځ ګوزار-

نمانځی:(نمان-ځی)صفت- وګورئ نماړی-

نماړی ستن:(نما-ړی-ستن)اسم مرکب- مؤنث- وګورئ لماړی ستن-

نمائش:(ن-ما-ئش)اسم- واحد- مذکر- (۱)ښودنه- خلقو ته ښکاره کونه- نمود- ظاهرداري- (۲)د مصنوعاتو یا نورو خاص څیزونو خلقو ته دَ ښودلو مېله-

نمائش ګاه:(ن-ما-ئش-ګاه)اسم مرکب- د نمائش ځاے- د څهٔ خاص څیزونو خلقو ته دَ ښودلو ځاے- د نمائش دَ مېلې ځاے-

نمائشي:(ن-ما-ئ-شي)صفت- د نمائش سره منسوب- د نمائش متعلق- دَ ښودلو څیز-

نمائېدل:(نما-ئې-دل)مصدر لازم- ښکاره کېدل- څرګندېدل- ښودلے کېدل- (م- نما فارسي)-

www.pukhto.net

نمانبدلے:(نما-يْ-دَلے)صفت مفعول- جمع نمانېدلي- مؤنث نمانبدلې- وګورئ نمانبدل-

نمانېدن:(نما-ې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ نمانېدل-

نمانندګ:(نما-ې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ نمانېدل-

نمانده:(نما-ې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ نمانبدل-

نمانډونکے:(نما-ې-دون-کے)فاعل- جمع نمانېدونکي- مؤنث نمانبدونکې- وګورئ نمانبدل-

نمانېدهٔ:(نما-ې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ نمانېدل-

نمايان:(نْ-ما-يان)صفت- (۱)ښکاره- څرګند- عيان- ظاهر- (۲)نوموړے- نامور- ياد-

نمائندګي:(نْ-ما-يْن-د-ګي)اسم- واحد- مؤنث- په څهٔ ځائ بـاندې موجود کېدل- قايم مقامي-

نمائنده:(ن-ما-يْن-ده)صفت- واحد- مذکر- ترجمان- قائم مقام- نائب-

نمائيل:(نْ-ما-ئيل)مصدر متعدي- ښيل- اورول- ښودل- څرګندول-

نمبر:(نم-بر)اسم- واحد- مذکر- تعداد- درجه- پېره- وار- نوبت-

نمبوزک:(نم-بو-زک)اسم- واحد- مذکر- ترېوزک- نقاب- پرده- پوزې-

نمڅے:(نم-څے)اسم- واحد- مذکر- د ښوساتو د ذات يو مُردار خور مارغه- کرګس- لم ښتے- لم چټ-

نمژن:(نم-ژن)اسم صفت- واحد- مذکر- لوند- تر کړے شوے- لوند شوے- نوژن-

نمد:(نمد)اسم- واحد- مذکر- د ورى يا د پشم بستره- توشک- نرم- ملائم-

نمدبل:(نم-د-بل)اسم- واحد- مذکر- لاوې- ترکاري- کټغ- سالن- لندبل- مکولے- پورونے-

نمدساز:(نمد-ساز)صفت- واحد- مذکر- نمد جوړونکے-

نمر:(نمر)اسم- واحد- مذکر- د شمسي نظام دَ مينځ ستورے چې زمکې د پاره د رڼا او تود والي مستقل ذريعه ده- نور-

نمرپرس:(نمر-پهٔ-رس)اسم- واحد- مذکر- يو قسم ګل چې په نمر پسې مخ اړوي- نباتاتي نوم هيلي اينتهس HELIANTHUS-

نمرپرست:(نمر-پهٔ-رست)اسم- واحد- مذکر- (۱)وګورئ نمرپرس- (۲)صفت- نمر ته سجدې کونکے- دَ نمر عبادت کونکے-

نمرپربواتهٔ:(نمر-پرې-واتهٔ)اسم- واحد- مذکر- دَ نمر پربوتو طرف- قبله- مغرب- لوېديځ-

نمرپربواتير:(نمر-پرې-و-تير)صفت- واحد- مذکر- لوېديځ-

نمرخاتهٔ:(نمر-خا-تهٔ)اسم- واحد- مذکر- د نمر راختو طرف- مشرق- راختيځ-

نمرختيز:(نمر-خ-تيز)صفت- واحد- مذکر- مشرقي- نمرخاتهٔ طرف-

نمرګل:(نمر-ګل)اسم- واحد- مذکر- نمرپرس- نمرپرست- دَ يو قسم ګل دے چې په نمر پسې مخ ګرځوي-

نمرمخے:(نمر-مخ-خے)صفت- واحد- مذکر- نمر په رنګ مخ لرونکے- ښکلے- ښائسته محبوب- معشوق-

نمرى:(نمه-رى)اسم- جمع- مؤنث- لباس- جامې- کپړې-

نمرئيل:(نم-رئيل)مصدر- د ابو سره لوښي وينځل-

نمرينه:(نم-ري-نه)اسم- واحد- مؤنث- دَ لوښو صفائي-

نمړى تار:(نمه-ړى-تار)صفت- واحد- مذکر- بخيل- شوم- کنجوس- (۲)بې عزت-

نمړى:(نمه-ړى)اسم- واحد- مؤنث- لقمه- نواله- ګپه- نوړى-

نمړے:(نمه-ړے)صفت- واحد- مذکر- وړومبے- زوړ- مقدم-

نمړے:(نمه-ړے)صفت- واحد- مذکر- نامزد- مشهور-

نمزګ:(نمز-ګ)اسم- واحد- مذکر- جومات- جمات-

نمسانمسى:(نمه-سا-نمه-سى)اسم مرکب- جمع- دَ خوى لور اولاد نمسى او نمسى نسل-

نمط:(نه-مط)اسم- واحد- مذکر- روش- طريقه- طرف- طور-

نمک:(ن-مک)اسم- واحد- مذکر- دَ مخ مالګه- دَ مخ وړل- (۲)مالګه- (۳)رزق- خوراکه-

نمک حرام:(ن-مک-حرام)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)حرام رزق خوړونکے- حرام خور- حرامه معاوضه اخستونکے- (۲)د چا نيکي او احسان هېرونکے- بې وفا- نمک مردار-

نمک حلال:(ن-مک-ح-لال)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)حلال رزق خوړونکے- حلال خور- حلاله مزدوري اخستونکے- (۲)د چا نيکي او احسان نهٔ هېرونکے- وفادار-

نمک حلالي:(ن-مک-ح-لالي)اسم- واحد- مؤنث- (۱)حلاله ګټه خوړنه- (۲)د چا نيکي او احسان نهٔ هېرونه- وفاداري-

نمکخوار:(ن-مک-خوار)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)د چا نمک يا رزق خوړونکے- دَ چا پروري ته ناست- (۲)مالګه خوړونکے-

نمکدان:(ن-مک-دان)اسم- واحد- مذکر- د مالګې لوښے- هغه لوښے چې مالګه پکښې کېښودے شي-

نمک مُردار:(ن-مک-مُر-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- نمک حرام-

نمکين:(ن-م-کين)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)د مالګې سره متعلق- مالګين- (۲)چې مالګه پکښې وي- ترسکون- (۳)سکاڼ- ښکلے- ږولې- زړهٔ راکښونکے- مؤنث نمکينه- (م- فارسي نمک)-

نمنا:(نم-نا)اسم- واحد- مؤنث- بغاوت- نافرماني- سرکشي- سرغړانه- (افغانستان)-

نمناک:(نم-ناک)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه چې نم پکښې وي- نمژن- لوند- تر- مؤنث نمناکه- جمع مؤنث نمناکې- (م- فارسي)-

نمنغ:(نمنغ)اسم- واحد- مذکر- عزت- قدر- احترام-

نمنح:(نمنح)اسم- واحد- مذکر- موبح- نموبح-

www.pukhto.net

نمنخل:(نمن-خل)مصدر متعدي- نمانځل- عزت کول- درنول- درناوے کول-
نمنخلے:(نمن-خه-لے)صفت- واحد- مذکر- مُعزز- محترم- عزتمند-
نمنخنه:(نمَن-خَنَه)حاصلِ مصدر- عزت ورکونه- محترم گڼنه-
نمو:(ن-مو)اسم- واحد- مؤنث- لوئيدنه- ټوکيدنه- وده کونه- (م- فارسي مذکر)-
نمود:(نه-مود)اسم- واحد- مذکر- (۱)ښکاره کېدنه- څرګندېدنه- (۲)نمائش- ښودنه-
نمودار:(نه-مو-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)څرګند- ښکاره- په نظر راتلونکے- (۲)افسر- سردار- رهبر- ښکاره سړے- نوموړے سړے-
نمودے:(نه-مو-دے)اسم صفت- واحد- مذکر- ښکاره- څرګنده- (فارسي)-
نموړل:(نمو-ړل)مصدر متعدي- مړل- تاؤ ورکول-
نموړه:(نمو-ړه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ نومه-
نموږل:(نمو-ږل)مصدرِ متعدي- کومبخ کول- خوراک- کومنزول- ژمزول-
نمونه (ن-مو-نه)صفت- واحد- مذکر- (۱)مثل- مظير- (۲)نقشه- مثل- سانچه- قالب- نشانه- نښه-
نمونيا:(نَ-مون-يا/ن-مو-نيا)اسم- واحد- مؤنث- د بيمارۍ په دوران د پرپوس سوروالے او پارسوب-
نمی:(نَ-مي)اسم- واحد- مؤنث- لوندوالے- تري-
نمېر:(نَ-مېر)اسم- واحد- مذکر- د يو قسم سور رنګ لرونکے ګل-
نمېرۍ:(ن-مې-رۍ)اسم- جمع- مؤنث- (۱)لباس- جامې- کپړې- (۲)د ښځو حيض راتلل-
نمېسل:(نمې-سَل)مصدرِ متعدي- (۱)نموږل- مالش کول- (۲)مښتل- تاوول- تاوهل- (۲)نيول- (۲)ليکل- (متروک)-
نن:(نَن)اسم- متعلق فعل- نن ورځ- ننۍ ورځ- موجوده ورځ- نن سبا- نن پرون- حال-
ننخړۀ:(ن-خړۀ)اسم- واحد جمع- مذکر- وګورئ رنخړۀ-
ننخکه (ن-خ-که)اسم- واحد- مؤنث- کوډې- لولي- ناوکي- پوټلی-
نناداپ:(ن-داپ)اسم صفت- واحد- مذکر- مداق- نداپ-
نناداپ توب:(ن-داپ-توب)اسم- واحد- مذکر- د ننداپ کار- ممداپي- د ننداپ جوړېدو حالت- نداپي- مداقي-
ننداړتون:(ن-دار-تُون)اسم- واحد- مذکر- تماشاګاه- د تماشې کولو ځاۍ-
ننداړچي (ن-دار-چي)صفت- واحد- مذکر- تماشه کونکے- تماشګير- تماشبين-
ننداړغالے (ن-دار-غالے)اسم- واحد- مذکر- هغه ځاۍ چرته چې ننداره تماشه ښودلے کيږي- تهيټر- (افغانستان)-
ننداره:(نن-دا-ره)اسم- واحد- مؤنث- تماشه- نمائش-
ننداري:(نن-دا-ري)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ننډرامي-

ننډرامي:(نن-ډرا-مي)اسم- واحد- مؤنث- کابلي روپۍ- تنداري-
ننډرپايه:(نندر-پا-يه)اسم- واحد- مؤنث- اندرپايه- پوړۍ- د لرګي يا د اَسپنې پوړۍ چې د يو ځاۍ نه بل ځاۍ ته ورلے کېدے شي-
ننډرور:(نند-رور)اسم- واحد- مؤنث- اينډرور- د خاوند خور-
ننډرورزے:(نند-رور-زے)اسم- واحد- مذکر- د ننډرور خوئ- د خاوند د خور خوئ- ندروزے-
ننډره:(نند-ره)اسم- واحد- مؤنث- نينډره- هغه روپۍ چې په وادۀ کښې خلق د بدل په طور ورکوي-
ننډيار:(نند-يار)اسم- واحد- مؤنث- د خاوند خور- ننډرور- ندوور- جمع سياري-
ننډرۀ:(ند-رۀ)اسم- جمع- مذکر- رانخړۀ- رنخړۀ- ننخړۀ-
ننوور:(نن-وور)اسم- واحد- مؤنث- نږور- د خوئ ښځه-
ننوړے:(ننو-ړے)اسم- واحد- مذکر- پرنجے- تروشے- اينګے- نژے- اټسکے- انبوشے- (افغانستان)-
نن سبا:(نن-س-با)اسم مرکب- واحد- مذکر- (۱)څېره څمونه- تېال متول کونه- ايلې بلنې کونه- (۲)حال او مستقبل-
ننکي:(ن-ن-کي)اسم- واحد جمع- مؤنث- وره دانه- دانه- ښنخه- ښنخکي- د خرمن دننه نو زوي پيدا کېدنه- اتشي-
ننګ:(ننګ)اسم- واحد- مذکر- غيرت- جميعت- اَبرو-
ننګاړے:(ننګ-کا-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)د کښې او مسواکې ګټې تر مينځه خوره فاصله- (۲)په نهۀ ننګاړي نومې لوبه کښې د هر يوۀ پکی نامه-
ننګړے:(ننګ-کۀ-ړے)اسم- واحد- مذکر- انکے- ګنګه- اينګړے-
ننګړے:(ننګ-ړے)صفت- واحد- مذکر- رنګے- د ګڼ ضد- رنګړے-
ننګبنه:(ننګ-ګمبنه)اسم- واحد- مؤنث- رکن- ستن- ذمه وار کس- ممبر- (افغانستان)-
ننګوړے:(ننګ-ګو-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)تريوړے- بادرنګ- (افغانستان)- (۲)وړوکے انار- تريو او وړوکے انار-
ننګون:(ننګ-ګون)اسم- واحد- مذکر- لنګون- لنګتون- لنګېدنه- بچے راوړنه-
ننګ و نام:(ننګو-نام)اسم مرکب- واحد/جمع- مذکر- لحاظ- شرم- غېرت- ننګ و ناموس- عزت- عصمت-
ننګ و ناموس:(ننګ-وُ-نا-مُوس)اسم مرکب- واحد/جمع- مذکر- غېرت- عزت- حيا- عصمت- شرم-
ننګه:(ننګ-که)اسم- واحد- مؤنث- غېرت- جميعت- طرفداري-
ننګيال:(ننګ-يال)اسم صفت- وګورئ ننګيالے-
ننګيال توب:(ننګ-يال-توب)اسم- واحد- مذکر- ننګ و ناموس- مړانه- عزت مندي-
ننګيالے:(ننګ-يا-لے)اسم صفت- واحد- مذکر- ننګيال- غېرت مند- ناموس

ګ" (ګي-رل) ، ګ"(ګې-ره-ول) ، ګ"(پيا-لي) ، "ے"(تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

باندې مې کېدونکې- غیرتي-
تنکېدل:(تنک-کې-دل)مصدر متعدی- تنګ کول- غیرت کول- تنګ خوړل-
تنکېدل:(تنک-کې-دل)مصدر متعدی- انګیرل- ګومان کول- احساسول-
اټکلول- سوچل- ځاحل- منل-
ننګې:(ننګ-ګې)اسم- واحد- مذکر- د ابو یو قسم لوی ځناور- نهنګ- ناکه-
کهپر- (افغانستان)-
ننکې:(ننک-کې)اسم- واحد- مذکر- رحسار- اننکې- جمع ننګې-
ننکې:(ننک-کې)اسم- واحد- مذکر- حامي- ملګری- شانتړ- روستې- (پښتې)-
ننه ننه:(ننه-ننه-ننه-ننه)متعلق فعل- پټ پهٔ پټه- پهٔ پټه پټه- پهٔ پرده پرده
کېږي- دننه دننه- اننه اننه-
ننېدل:(نه-ني-دل)مصدر لازم- (۱)ننوتل- (۲)انیني کېدل-
ننی:(نه-ن-نی)اسم- واحد- مؤنث- د ن ورځې متعلق- روانه ورځ-
ننی (نه-ن-نی)صفت- واحد- مذکر- د ن ورځې- امروزه- (۲)تازه- جدید-
نوی-
ننواته:(ن-ن-وا-ته)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ننواتې-
ننواتي:(ن-ن-وا-تي)اسم- واحد- مؤنث- ننواته- دٔ پښتنو د دستور مطابق
د چا کورته د معافی غښتو د پاره تلنه او معافي غښتنه-
ننوب:(نه-نوب)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ننګون-
ننوتل:(نه-ن-و-تل)مصدر متعدی- داخلېدل- دننه تلل- ننوتل-
ننوتلی:(نه-ن-و-تلی)صفت فاعل- واحد- مذکر- داخل شوی- وردننه
شوی- ننوتی- ورپېچ شوی-
ننوتن:(نه-ن-و-تن)حاصل مصدر- وګورئ ننوتل-
ننوتنګ:(نه-ن-و-تنګ)حاصل مصدر- وګورئ ننوتل-
ننوتنه:(نه-ن-و-ته-نه)حاصل مصدر- وګورئ ننوتل-
ننوتونکی:(نه-ن-و-تون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ننوتل-
ننوته:(نه-ن-و-ته)حاصل مصدر- وګورئ ننوتل-
ننوتی:(نه-ن-و-تی)صفت فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ننوتلی-
نن ورځ:(نن-ورځ)اسم مرکب- واحد- مؤنث- ننی ورځ-
ننول:(ن-نه-ول)مصدر متعدی- قطره قطره څڅول- څاڅکي څاڅکي څڅول-
پکي پکي څڅول-
ننون:(نه-نه-ون)حاصل مصدر- وګورئ ننول-
ننونګ:(نه-نه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ننول-
ننونکی:(نه-نه-ون-کی)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ننول-
ننونه:(نه-نه-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ننول-
ننویستل:(نه-نه-ویس-تل)مصدر متعدی- دننه کول- ننه ایستل-
ننویستن:(نه-ن-ویس-تن)حاصل مصدر- وګورئ ننویستل-
ننویستنګ:(نه-ن-ویس-تنګ)حاصل مصدر- وګورئ ننویستل-
ننویستنه:(نه-ن-ویس-ته-نه)حاصل مصدر- وګورئ ننویستل-

ننویستونکی:(نه-ن-ویس-تون-کی)فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ننویستل-
ننویسته:(نه-ن-ویس-ته)حاصل مصدر- وګورئ ننویستل-
ننه:(نه-نه)حرف جار- دننه- مېنځ کېنې- دننه- اینته-
ننه باسل:(نه-نه-با-سل)مصدر متعدی- دننه کول- اینته کول- ننه ایستل-
منل- ورمېل-
ننه باسن:(نه-ن-با-سن)حاصل مصدر- وګورئ ننه باسل-
ننه باسنګ:(نه-ن-با-سنګ)حاصل مصدر- وګورئ ننه باسل-
ننه باسنه:(نه-ن-با-سه-نه)حاصل مصدر- وګورئ ننه باسل-
ننه باسونکی:(نه-ن-با-سون-کی)فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ننه باسل-
ننه باسه:(نه-ن-با-سه)حاصل مصدر- وګورئ ننه باسل-
ننېدل:(ن-ني-دل)مصدر لازم- صاف کېدل- څاڅکي څڅېدل-
ننېدن:(ن-ني-دن)حاصل مصدر- وګورئ ننېدل-
ننېدنګ:(ن-ني-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ننېدل-
ننېدنه:(ن-ني-ده-نه)حاصل مصدر- وګورئ ننېدل-
ننېدونکی:(ن-ني-دون-کی)اسم فاعل- وګورئ ننېدل-
نو:(نو)اسم- واحد- مذکر- نوم- نامه- ناف- جمع نوګان-
نو:(نو)اسم- واحد- مذکر- (۱)نم- نمي- تړ- لوند- (۲)پېپ-
نو:(نو)حرف جزاء- حرف شرط- بیا-
نوا:(ن-وا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)آواز- صدا- (۲)کوک- راګ- نغمه- (۳)ساز
و سامان- (۴)روزي- (۵)خوشحالي- (۶)د موسیقي پهٔ دولسو مقامونو
کېنې د یو مقام نوم-
نواب:(ن-واب)اسم- واحد- مذکر- (۱)نائب- دٔ یوې علاقې حاکم- (۲)پېر
لوی جاګیردار- (۳)د عزت خطاب-
نوآباد:(نو-آباد)صفت- واحد- مذکر- نوی آباد کړی شوی-
نوآبادکار:(نو-آباد-کار)صفت- واحد- مذکر- یوه شاړه علاقه او پسمانده
ملکونه آبادونکی- (۲)هغه حکومت چې د شاړو آبادولو پهٔ بانه پهٔ
پسمانده ملکونو سیاسی او اقتصادي تسلط قائموي-
نوابادي:(نو-آبا-دي)اسم- واحد- مؤنث- هغه علاقه ، ملک یا جزیره چې یو
لوی ملک دٔ ابادولو پهٔ بانه قبضه کړې وي- جمع نوآبادیات-
نوآبادیاتي:(نو-آبا-دي-یا-تي)صفت- واحد- مذکر- دٔ نو ابادیاتو سره
متعلق- وګورئ نوآبادي-
نوآبادکاري:(نو-آباد-کا-ري)اسم- واحد- مؤنث- (۱)یوه شاړه علاقه او
پسمانده ملکونه آبادونه- (۲)د یو ملک د شاړو علاقو آبادولو پهٔ بانه پهٔ
پسمانده ملکونو خپل سیاسي او اقتصادي تسلط قائمونه-
نواح:(ن-واح)اسم- واحد- مذکر- مضافات- ګېر چاپېره علاقه-
نواحي:(ن-وا-حي)صفت- واحد- مؤنث- ګېر چاپېره علاقه-
نواحت:(ن-وا-حت)اسم صفت- واحد- مذکر- لائق- مناسب- جوګه-
(م- فارسي)-

زبر (ج-سه-ره)، زورکی (شل)، پېښ (نو-کا-ره)، زېر (ک-باب)، جزم (شکون)، ة (ر-ړه)، ة (پو-سي-ده)

www.pukhto.net

نواختن (ن-واخ-تن)مصدر لازم- مراد ته رسېدل- برابرېدل- (م- فارسی)-

نوادر (نَ-وا-در)صفت- واحد- مذکر- دَ نادر جمع- عجیبه شیزونه-

نوار (ن-وار)اسم- واحد- مذکر- هغه پلنه او غټه فیته چې پالنګونه ترې نه
جوړولې شي- نوار-

نواره(ن-وا-ره)اسم- واحد- مؤنث- سپینه غټې- سپینه کلی- شګوفه-

نواری(ن-وا-ري)اسم- جمع- مذکر- پوشاک- جامې- زړوکي- اغستن- کالي-
لباس-

نوار (ن-وار)اسم- واحد- مذکر- وګورئ نوار-

نواړه(ن-وا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- وړه کشتۍ چې د سېل د پاره پکارولې
شي-

نواړه(ن-وا-ړه)اسم- واحد- مذکر- غم- خفګان-

نواړې(نَوا-ړې)اسم- واحد- مذکر- وړه ټکونه- ارت ګنډ- کچه ګېنډه-
سرسري ګنډ- ارتې بخې- غاړې لمارې-

نواز (نَ-واز)اسم صفت- واحد- مذکر- ساتونکے- عزت ورکونکے-

نواز (ن-واز) دَ لاحقې په توګه دَ صفت نه پس لګولې کیږي لکه غریب نواز-

نوازش(ن-وا-زش)اسم- واحد- مذکر- مهرباني- عنايت- کرم- جمع
نوازشات- (م- فارسی)-

نوازنده(نَ-وا-زن-ده)صفت- واحد- مذکر- سندرغاړے- ساز غږونکے-
(م- فارسی)-

نواسیر (نه-وا-سیر)اسم- جمع- مذکر- د ناسور جمع- هغه ناسور چې په
مقعد کښې جوړ شي- يو قسم بواسیر-

نواصب(ن-وا-صب)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ مسلمانانو یوه فرقه چې
حضرت علی علیه السلام نه مني- (۲)خارجي-

نوافذ (ن-وا-فذ)اسم- جمع- مؤنث- د وجود سوري- دَ پوزې، غوږونو او
کوني سوري- (م- عربی)

نوال (نه-وال)اسم- واحد- مذکر- بخښنه- بخشش- عطاء- ورکړه- ورکړه-

نواله(ن-وا-له)اسم- واحد- مؤنث- نمرې- نوړي- قهمه- دَ خوراک هغه برخه
چې په يو وار خُلې ته کړے شي- (م- فارسی- مذکر)-

نوآموز (نو-آ-موز)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه څوک چې نوې نوې زده
کړه يُ کړې وي- نابلده- چې اوس يُ زده کړه شروع کړې وي-
(م- فارسی)-

نوامیس(نه-وا-میس)اسم- جمع- مذکر- د ناموس جمع-

نواسواز (نه-وا-سواز)صفت/فاعل- واحد- مذکر- آواز کونکے- نغمه
ویونکے- (فارسي)-

نواهی(نَ-وا-هی)اسم- جمع- مذکر- دَ نهی جمع- ممنوعات- ناجائز کار-

نوائب(نَ-وا-ئب)اسم- جمع- مذکر- دَ نائبه جمع- تکلیفونه- (م- عربی)-

نوباده(نو-با-ده)اسم- واحد- مؤنث- (۱)تازه او نوې رارسېدلې مېوه-
(۲)هغه پچی (ټوکرۍ) چې باغوان يُ دَ چوڼ کړو مېوو او ګلونو نه ډکه
کړي او تحفهٔ يُ بادشاهانو له وړي- (م- فارسی)-

نوبت(نو-بت)اسم- واحد- مذکر- (۱)وار- نمبر- (۲)حالت- (۳)نقاره-
نقاره- (م- فارسی)-

نوبتی(نو-بـ-تي)صفت- واحد- مذکر- چوکیدار- نقاره وهونکے-

نوبهار (نو-بـ-هار)اسم- واحد- مذکر- نوې بهار- تازه پسرلے- دَ بهار
شروع- د پسرلي نوے رانګ-

نوټری پبلک(نوټ-ري-پب-لک)اسم- واحد- مذکر- د حکومت دَ طرف نه
مقرر کړے شوے سړے چې دستاویزاتو باندې تصدیق کوي-
(NOTARY PUBLIC)-

نوچې(نو-چي)اسم- واحد- مؤنث- بازاري جینۍ چې چلولې شي- رنډۍ-
کنجرۍ- پمه- چلېدونکې جینۍ-

نوخ(نوخ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ نوسے-

نوح(نوح)اسم- واحد- مذکر- د یوهٔ مشهور پیغمبر نامه دَ چا په شپږو چې
په دنیا کښې د ابو طوفان راغلے وو-

نوحه(نو-حه)اسم- واحد- مؤنث- ژړا- فریاد- ماتم کونه- په مړي باندې
ژړل- (م- عربی)-

نوحه خوان(نو-حه-خوان)اسم صفت- هغه کس چې دَ مړي په موقع دَ غم
شعرونه وائي يا د مړي خوبۍ په ژړا کښې بیانوي- نوحه ګر-
(م- فارسی)-

نوحه ګر (نو-حه-ګر)صفت- واحد- مذکر- نوحه خوان-

نوخط(نو-خط)اسم صفت- واحد- مذکر- هغه ځلمے چې په مخ يُ نوے خط
راغلے وي- کچه ځلمے- نوے ځلمے-

نوخرنده(نوخ-رن-ده)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ اولجه-

نوخول (نو-خه-ول)مصدر متعدي- ډېر مشتاق جوړول- ډېر خواهشمند
جوړول-

نوخېدل(نو-خې-دل)مصدر لازم- زیات محتاج کېدل- ډېر غریب کېدل-

نوخېدن(نو-خې-دن)حاصل مصدر- وګورئ نوخېدل-

نوخېدنګ(نو-خې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ نوخېدل-

نوخېدنه(نو-خې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ نوخېدل-

نوخېدونکے(نو-خې-دون-کے)اسم فاعل- جمع نوخېدونکي- مؤنث
نوخېدونکې- وګورئ نوخېدل-

نوخېده(نو-خې-ده)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه-
وګورئ نوخېدل-

نور (نور)متعلق فعل- زیات- ددې نه علاوه-

نُور (نُور)اسم- واحد- مذکر- (۱)رڼا- چمک- (۲)رونق- (۳)کلام پاک-
(م- عربی)-

نور(نُور)اسم- واحد- مذکر- نمر- لمر- آفتاب- جمع نورونه-

نوراني(نو-را-ني)صفت- واحد- مذکر- چمکدار- روڼ- منور- پرقېدونکے-

www.pukhto.net

د نور متعلق-

نورپرېواته:(نور-پرې-وا-ته)اسم- واحد- مذکر- قبله- مغرب-

نورپرېوتيز (نور-پرې-و-تيز)اسم- واحد- مذکر- قبله- مغرب-

نورخاته (نور-خا-ته)اسم- واحد- مذکر- نمرخاته- مشرق- شعرب- نمرختير- نورختير-

نورختير (نور-خه-تيز)اسم- واحد- مذکر- وګورئ نورخاته-

نورس:(نو-رس)صفت- واحد- مذکر- تازه- نوے ټوکيدلے-

نورک:(نو-رک)اسم- واحد- مذکر- نوری- لباس- کپړې- جامې- نمرې-

نورلس:(نور-لس)اسم عدد- د اتلس او شل تر مينځه عدد- (۱۹)- يو کم شل- نولس-

نورلسم:(نور-له-سم)اسم عدد- د نورلس صفتي عددی هندسه-

نورلسمه:(نور-له-سه-مه)اسم عدد- د نورلس صفتي عدد مؤنث هندسه-

نوروز:(نو-روز)اسم- واحد- مذکر- (۱)د کال ورومبی ورځ- (۲)د ايرانيانو قومي جشن-

نوروزی ګل:(نو-رو-زی-ګل)اسم- واحد- مذکر- د يو قسم ګل نامه-

نورول:(نو-ره-ول)مصدر متعدی- تبديل کول- بدلول- اړول-

نورون:(نو-ره-ون)حاصل مصدر- وګورئ نورول-

نورون:(نو-ره-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ نورول-

نورونه:(نو-ره-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ نورول-

نوری:(نو-ری)اسم- جمع- مذکر- جامې- پوشاک- لباس- زروکی- کپړې- نمرې- کالی-

نوربدل:(نو-ری-دل)مصدر لازم- بدلېدل- تبديلېدل- اوړېدل-

نوربدن:(نو-ری-دن)حاصل مصدر- وګورئ نورېدل-

نوربدنګ:(نو-ری-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ نورېدل-

نوربدنه:(نو-ری-ده-نه)حاصل مصدر- وګورئ نورېدل-

نورېدونکے:(نو-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع نورېدونکی- مؤنث نورېدونکې- وګورئ نورېدل-

نورېده:(نو-ری-ده)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صيغه- وګورئ نورېدل-

نوړز:(نو-ړز)اسم- واحد- مذکر- بتېړ- مرز-

نوړل:(نو-ړل)مصدر لازم- نړېدل- ړنګېدل- غرځېدل- تباه کېدل- ورانېدل-

نوړن:(نو-ړن)حاصل مصدر- وګورئ نوړل-

نوړنګ:(نو-ړنګ)حاصل مصدر- وګورئ نوړل-

نوړنه:(نو-ړه-نه)حاصل مصدر- وګورئ نوړل-

نوړول:(نو-ړه-ول)مصدر متعدی- د ښخه وبستل- غرځول- نړول- ړنګول-

نوړون:(نو-ړه-ون)حاصل مصدر- وګورئ نوړول-

نوړونکے:(نو-ړه-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ نوړول-

نوړونګ:(نو-ړه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ نوړول-

نوړونه:(نو-ړه-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ نوړول-

نوړېدل:(نو-ړې-دل)مصدر لازم- نړېدل- غرځېدل- پرېوتل-

نوړېدن:(نو-ړې-دن)حاصل مصدر- وګورئ نوړېدل-

نوړېدنګ:(نو-ړې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ نوړېدل-

نوړېدنه:(نو-ړې-ده-نه)حاصل مصدر- وګورئ نوړېدل-

نوړېدونکے:(نو-ړې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع نوړېدونکی- مؤنث نوړېدونکې- وګورئ نوړېدل-

نوړی:(نو-ړی)اسم- واحد/جمع- مؤنث- لقمه- نواله- ګپه- مواړی-

نوز (نوز)اسم- واحد- مذکر- راز-

نوزی:(نو-زی)اسم- واحد- مؤنث- هغه کانړے چې چاړه چاقو پرې تېره کولے شی- چړکانړے- بيلو-

نوزے:(نو-زے)اسم- واحد- مذکر- نوسے- مرخېړک-

نوزے:(نو-زے)صفت- واحد- مذکر- نوے- دا لفظ بطور تاکيد استعمالېږی لکه نوے نوزے-

نوژن:(نو-ژن)اسم صفت- واحد جمع- مذکر- نمژن- نمجن- چې نم لری- لوند- نم يا نږ لرونکے- لوندوالے لرونکے- مؤنث نوژنه-

نوږ:(نوږ)اسم صفت- مذکر- سوچه- خالص- ناږه- نرم- ګړم- يوب- چې هيڅ قسم ګډون پکښې نه وی شوے-

نوږدل:(نوږ-دل)مصدر لازم- ټوخل- ټوخېدل- اينګے اچول- انتوشے کول-

نوږدن:(نوږ-دن)حاصل مصدر- وګورئ نوږدل-

نوږدنګ:(نوږ-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ نوږدل-

نوږدنه:(نوږ-ده-نه)حاصل مصدر- وګورئ نوږدل-

نوږدونکے:(نوږ-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع نوږدونکی- مؤنث نوږدونکې- وګورئ نوږدل-

نوږول:(نو-ږه-ول)مصدر متعدی- خالصول- صفا کول-

نوږون:(نو-ږه-ون)حاصل مصدر- وګورئ نوږول-

نوږونکے:(نو-ږه-ون-کے)فاعل- واحد- مذکر- جمع نوږونکی- مؤنث نوږونکې- وګورئ نوږول-

نوږونه:(نو-ږه-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ نوږول-

نوږېدل:(نو-ږې-دل)مصدر لازم- ټوخېدل- انوے کول- اينګے کول-

نوږېدن:(نو-ږې-دن)حاصل مصدر- وګورئ نوږېدل-

نوږېدنه:(نو-ږې-ده-نه)حاصل مصدر- وګورئ نوږېدل-

نوږېدونکے:(نو-ږې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع نوږېدونکی- مؤنث نوږېدونکې- وګورئ نوږېدل-

نوږے:(نو-ږے)اسم- واحد- مذکر- نوغے- اصل- جمع نوږی-

نوږے:(نو-ږے)اسم- واحد- مذکر- انوے- انتروشے- اينوے- اينګے-

نوس:(نوس)اسم- واحد- مذکر- نفس- انسانی خواهش- هوس-

نوستل:(نوس-تل)مصدر متعدی- تتر بتر کول- ګډوډ کول- نستل-

www.pukhto.net

دانه وانه کول- تس نس کول-

نوسخان:(نوس-خان)اسم- واحد- مذکر- نقصان- زیان- تاوان- کچه حمل ضائع کېدنه-

نوسک:(نو-سک)اسم- واحد- مذکر- د نوس اسم تصغیر- نفس-

نوسه:(نو-سه)اسم- واحد- مؤنث- مرطوبه زمکه- ریساکه زمکه-

نوسه:(نو-سه)اسم- واحد- مؤنث- ذائقه- خوند-

نوسي:(نو-سي)صفت- واحد- مذکر- (۱)نفسي- د خواهشاتو پالند- (۲)نافرمان- سرکش-

نوسي کړوسي:(نو-سي-کړ-و-سي)اسم مرکب- جمع- مذکر- نمسا نمسي- نمسي کړوسي- اولاد- آل اولاد-

نوسے:(نو-سے)اسم- واحد- مذکر- نوسے- نمسے-

نوسے:(نو-سے)اسم- واحد- مذکر- هغه آله چې وېښتۀ پرې رکاږي-

نوش:(نوش)اسم- واحد- مذکر- (۱)ځښنه- (۲)خوشګوار څیز- شات- شهد- (۳)تریاق- آب حیات- (۴)لاحقه چې دَ بعضي نامو پۀ آخر کښې راشي او د فعل معنې پیدا کوي لکه باده نوش-

نوشادر:(نو-شا-در)اسم- واحد- مذکر- یو مرکب دے چې دَ امونیم او کلورین نه جوړیږي-

نوشت:(نوشت)اسم- واحد- مذکر- تحریري- لکهائي- کتابت- وئیل او لیکل-

نوشته:(نوش-ته)صفت- واحد- مذکر- (۱)لیکلے شوے- (۲)تحریر کړے شوے- (۳)دَ تقدیر لیک-

نوش دارو:(نوش-دا-رو)اسم- واحد/جمع- مذکر- (۱)تاریاق- تریاق- زهرموره- (۲)شراب-

نوشل:(نو-شل)مصدر متعدی- څښل- نوش کول- (م- فارسي نوش)-

نوشین:(نو-شین)صفت- واحد- مذکر- شیرین- خوږ- خوش ذائقه- (م- فارسي)-

نوښادر:(نو-ښا-در)اسم- جمع- وګورئ نوشادر- (افغانستان دارمینا)-

نوغ:(نوغ)اسم- واحد- مذکر- نوغے- اصل- جرړه- (م- عربي)-

نوعمر:(نو-ع-مر)اسم صفت- واحد- مذکر- کچه ځلمے- ملک- هغه ملک چې نوے ځلمے شوے وي- ناتجربه کار- (م- فارسي)-

نوعمري:(نو-عم-ري)اسم- واحد- مؤنث- کچه ځلمیتوب- هلکوانه- هلکتوب- کچه ځواني-

نوغ:(نوغ)اسم- واحد- مذکر- (۱)بېخ- بنیاد- اصل- جرړه- تخم- (۲)علامت- چاپ- خاپ- ټاپ- ټاپ- جمع نوغي-

نوک:(نوک)اسم- واحد- مذکر- د ښکر د ذاته یو نرے پټرے چې د بنیادمو او ځناورو دَ پښو او لاسونو د ګتو پۀ سرونو راخیژي- جمع نوکونه-

نوکاره:(نو-کا-ره)اسم- واحد- مؤنث- سکوندارہ- د نوک زخم- جمع نوکارې-

نوکارول:(نو-کا-رول)مصدر متعدی- نوکاري کول- په چا دَ نوک په ذریعه زخم راوستل-

نوک تراش:(نوک-تراش)اسم- واحد- مذکر- د نوک پرېکولو آله-

نوکر:(نو-کر)اسم- واحد- مذکر- ملازم- تنخوادار- خدمتګار- خادم- جمع نوکران-

نوکري:(نو-که-ري)اسم- واحد- مؤنث- ملازمت- چاکري- خدمتګاري- خادمي- جمع نوکرۍ-

نوکرے:(نوک-رے)اسم- واحد- مذکر- هغه ځناور چې نوکونه ئ سپین وي-

نوک نیول:(نوک-نې-ول)مصدر متعدی- ځنډول- دمه کول- پڼل ورکول- تاخیر کول- خبره نیول- پۀ خبرو کښې سا اخستل یا دمه کول-

نوکونه جنګول:(نو-کو-نه-جنګ-که-ول)ترکیبي مصدر- دَ چا پۀ جنګ خوشحالیدل- دوه کسه جنګول-

نوک وروي:(نوک-و-روي)اسم مرکب- لازم ملزوم- ډېر نژدې- ډېر خواږه-

نوکه:(نو-که)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ ځناورو د سپینې هغه حصه چې پۀ زمکه لګېدلې وي- (۲)پنجه-

نوکه:(نو-که)اسم- واحد- مؤنث- دَ چرسو یوه نره حصه- پۀ نوک بانديې دَ چرسو یوه نره بیلونه- دَ چرسو ټوکړه-

نوکي سترګي:(نو-کي-ستر-ګي)صفت مرکب- جمع- مؤنث- وړې سترګې- چوچې سترګې-

نوکے:(نو-کے)اسم- واحد- مذکر- هغه سپے چې پوره شل نوکونه ئ وي-

نوکے:(نو-کے)اسم صفت- ډېر وړوکے- ډېر لږ- جمع نوکي-

نوکے نوکے:(نو-کے-نو-کے)صفت مرکب- ذره ذره- ټکړې ټکړې-

نوګا:(نو-ګا)اسم- واحد- مؤنث- ډیرې- اصل- پښت- رګ- نوغه-

نول:(نول)اسم- واحد- مذکر- غم- فکر- پرېشاني- خفګان- غریبي- اندېښه- سودا-

نول:(نول)اسم- واحد- مذکر- طور طریقه- دستور- روش- رواج-

نولت:(نو-لت)اسم- واحد- مذکر- خنزیر-

نول خول:(نول-خول)اسم مرکب- واحد- مذکر- پۀ خوارو زارو- پۀ ډېر کړاؤ-

نولژن:(نول-ژن)صفت- واحد- مذکر- غمژن- دلګیر- ملال- خفه-

نولژنول:(نول-ژن-نه-ول)مصدر- کړول- غمګین کول- پرېشانه کول-

نولژنېدل:(نول-ژنې-دل)مصدر- کړېدل- غمګینېدل- پرېشانه کېدل-

نولس:(نو-لس)اسم عدد- نولس- (۱۹)- یو کم شل-

نولس شل:(نو-لس-شل)اسم مرکب- واحد- مذکر- لږ فرق- معمولي توپیر- پوټې شلن فرق-

نولسم:(نو-ل-سم)صفت- واحد- مذکر- دَ نولس صفتي عدد- مؤنث نولسمه-

نولسمه:(نو-لس-مه)اسم صفت- واحد- مؤنث- وګورئ نولسم-

نولکے:(نو-له-کے)صفت- واحد- مذکر- شوخ سترګے- ګستاخ- بې لحاظه-

نولل:(نو-لل)مصدر متعدی- خوارۀ وارۀ ویشتل- نوستل- نښتل-

نولول:(نو-لول)مصدر متعدی- غمګین کول- تکلیف رسول- پرېشان کول-

www.pukhto.net

نولېدل:(نو-لې-دل)مصدر متعدي- کړېدل- غمګين کېدل- فکرمند کېدل- انديښنه پېدا کېدل- وسوسه پېدا کېدل- زړه خوړل-

نولېدن:(نو-لې-دن)حاصل مصدر- وګورئ نولېدل-

نولېدنګ:(نو-لې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ نولېدل-

نولېدنه:(نو-لې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ نولېدل-

نولېدهٔ:(نو-لې-دهٔ)حاصل مصدر- وګورئ نولېدل-

نولے:(نو-لے)اسم- واحد- مذکر- د (CIVETI) د خاندان يو قسم ځناور چې د مږې نه لږ غټ وی او ماران او مږې وژني- زيات تر په برصغير پاک و هند کښې پېدا کېږی- جمع نوليان يا نولی-

نوم:(نوم)اسم- واحد- مذکر- (۱)نام- نامه- اسم- (۲)مشهورتيا- جمع نومونه-

نوم:(نوم)اسم- واحد- مذکر- ناف- د وجود د يو اندام نوم- جمع نومونه-

نوماندے:(نو-مان-دے)صفت- واحد- مذکر- نامزد- مشهور- نامور-

نوم بدی:(نوم-بد-دی)اسم مرکب- واحد- مؤنث- بدنامی- نوم بدېدنه-

نومبر:(نو-وم-بر)اسم- واحد- مذکر- د عيسوی کال يوولسم مياشت-

نومد:(نومد)صفت- واحد- مذکر- لوند- تر- لوند- خوشت-

وچ لاړسه:(وچ-لاړن-دهٔ)اسم صفت- وګوری وچ لامدهٔ-
وچ لېګے:(وچ-لېګ-کے)اسم صفت- کمزورے- ماندهٔ جمع وچ لېګی-
وچمورے:(وَچ-مو-رے)اسم- واحد- مذکر- هغه ماشوم چې دَ مور پې يې وچ شوی وی-
وچن:(وَ-چن)اسم صفت- شنډ- لهٔ اولاده محروم- مؤنث وچنه- جمع مؤنث وچنې-
وچوب:(وَ-چوب)اسم- په لښتی کښې ابهٔ بندېدنه- د أبو کمے- أبهٔ کمېدنه- وچوبے- وچوبه-
وچوبه:(وَ-چو-به)اسم- واحد- مونث- وګوری وَچوب-
وَچوبے:(وَ-چو-بے)اسم- واحد- مذکر- جمع وچوبي- وګوری وچوب-
وچ پوچ:(وَچ-پوچ)اسم صفت- عبث خبره- بکواس-
وچوړ:(وَ-چوړ)اسم- وچوالے- وچتوب-
وچ وچکے:(وَچ-وَ-چ-کے)اسم صفت- وچ کمزورے-
وچوکے:(وَ-چو-کے)اسم صفت- وچ کرس- کمزورے-
وچول:(وَ-چه-ول)مصدر- لهٔ څه څيز نه نم وېستل- بې أبو کول-
وچولے:(وَ-چو-لے)اسم- واحد- مذکر- تندے- تندهٔ- جمع وچولي-
وچون:(وَ-چه-ون)حاصل مصدر- وګوری وچول-
وچونکے:(وَ-چه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع وچونکي- مؤنث وچونکې- وګوری وچول-
وچونګ:(وَ-چه-ونګ)حاصل مصدر- وګوری وچول-
وچونه:(وَ-چه-وَ-نه)حاصل مصدر- وګوری وچول-
وچوے:(وَ-چه-وو-نے)اسم- واحد- مذکر- هغه بيماری چې وجود پکښې وچ وچ کيږی- جمع وچونی-
وچه:(وَ-چه)اسم صفت- واحد- مؤنث- (۱)الـمه- خشکه- د لوندې ضد- (۲)دَ لنګې ضد- (۲)دَ بلاربې ضد-

ږ (ږ سهٔ ره)   ږ (کسره) (شل)   پېښ (مو-کا-ره)   زبر (د سات)   جزم (سکون)   ه (ر ره)   هٔ (پو-سي ده)

www.pukhto.net

وچه سپوره:(وَ-چه-سپو-ره)اسم- واحد- مونث- بیخی سپوره- سپوره صفه-

وچه غاړه:(وَ-چه-غا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- حلق- ستونی- د ساه د احستو
نالی-

وچه لاونده:(وَ-چه-لاوَن-ده)اسم- واحد- مؤنث- وګوری وچه لمده-

وچه لمده:(وَ-چه-لم-ده)اسم- واحد- مؤنث- کوره ګل- غوره ګل-

وچې پوچې:(وَ-چې-پو-چې)اسم- عبث- بې ځائیه- بکواس-

وچېدل:(وَ-چې-دل)مصدر لازم- (۱)د نم بیخی ختمېدل- اُبهٔ ختمېدل-
(۲)مانده کېدل-

وچېدن:(وَ-چې-دن)حاصل مصدر- وګورئ وچېدل-

وچېدنګ:(وَ-چې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ وچېدل-

وچېدنه:(وَ-چې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ وچېدل-

وچېدونکے:(وَ-چې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع وچېدونکي-
مؤنث وچېدونکې- وګورئ وچېدل-

وچېده:(وَ-چې-دَه)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه-
وګورئ وچېدل-

وچې سپورې:(وَ-چې-سپو-رې)اسم مرکب- جمع- مؤنث- (۱)سپورې متفي-
بیخی وچې- وچې کلکې- اوړلې خبرې- (۲)بې نکولې- بیخی وچې- چې
هیڅ پورې نه وي-

وچې کانګې:(وَ-چې-کانګ-کې)اسم- وچ قے- وچې التي-

وښکه:(وَښ-که)اسم- واحد- مؤنث- میوه- وچ کړی انګور-

وښکېز:(وَښ-کېز)اسم- واحد- مذکر- ښکېز- سدام- کمهه- د خېمې ستن-

وحدانی:(وَح-دا-نی)صفت- د واحد سره متعلق- تنها- ځانله-

وحدانیت:(وَح-دا-نی-یت)اسم- واحد- مذکر- توحید- یووالے- یو کېدنه-

وحدت:(وَح-دت)اسم- واحد- مذکر- د کثرت ضد- اتفاق- یووالے-

وحشت:(وَح-شت)اسم- واحد- مذکر- جنون- سودا- خفګان- لېونتوب- له
تنهائۍ پیدا کېدونکے غم او زړه تنګی- (م- عربی)-

وحشتناک:(وَح-شت-ناک)اسم صفت- وېرونکے- (م- عربی)-

وحشی:(وَح-شی)صفت- ځنګلی- غیرمهذب- (م- عربی)-

وحشیانه:(وَح-شی-یا-نه)متعلق فعل/صفت- د وحشی سره متعلق- وګورئ
وحشی- (م- عربی)-

وحید:(وَ-حید)اسم صفت- یو- بې مثال- لاثانی- د الله تعالی یو صفتی
نوم- (م- عربی)-

وحی:(وَ-حی)اسم- جمع- مونث- پېغمبرانو سره د خدایٔ پاک کلام- اشاره-
الهام- (م- عربی)-

وخ:(وَخ)کلمه- د غم یا بندی په موقع استعمالېدونکی شی- اخ-

وخت:(وَخت)اسم- واحد- مذکر- زمانه- دور- ساعت- ترنګ- جمع وختونه-

وخت تېرے:(وَخت-تې-رے)اسم- ساعت تېرے- وخت تېرونه- ګزران کونه-
ګپ شپ-

وخت ناوخته:(وَخت-نا-وَخ-ته)اسم مرکب- وخت بې وخته- هر ساعت- غوره
تېره- چې وخت او بې وخته یٔ معلوم نهٔ وي-

وختی:(وَخ-تی)صفت/متعلق فعل- دوخته- پېر مخکښې- سحر- وړومبې-

وختیز:(وَخ-تیز)متعلق فعل- د وخت سره تړلے- د وخت سره متعلق-

وختینی:(وَخ-تی-نی)صفت- مؤنث- د وختینے مؤنث- وګورئ وختینے-

وختینے:(وَخ-تی-نے)صفت- مذکر- وختی- د وړومبی رخت-

وخچه:(وَخ-چه)اسم- واحد- مؤنث- کوټه- زوړه- پونګی-

وخله:(وَخ-له)کلمه- د خېرانتیااو خوشحالی کلمه-

وداد:(وَ-داد)اسم- دوستی- محبت- مینه-

وداری:(وَ-دا-ری)اسم- واحد- مؤنث- بیداری-

وداع:(وَ-داع)اسم- رخصت- روانګې- د ناوې رخصتی-

ودان:(وَ-دان)صفت- اباد- جوړ شوے- د وران ضد-

ودانست:(وَ-دا-نیست)اسم- واحد- مذکر- ابادی جوړونه-

ودانول:(وَ-دا-نَ-وَل)مصدر متعدی- جوړول- ابادول-

ودانون:(وَ-دا-نَ-مون)حاصل مصدر- وګورئ ودانول-

ودانونکے:(وَ-دا-نَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ودانونکي- مؤنث
ودانونکې- وګورئ ودانول-

ودانونګ:(وَ-دا-نَ-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ ودانول-

ودانونه:(وَ-دا-نَ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ودانول-

ودانه:(وَ-دا-نه)صفت- (۱)ابادہ- (۲)اولاد لرونکې ښځه- نېکمرغه ښځه- جمع
ودانې-

ودانی:(وَ-دا-نی)اسم- واحد- مؤنث- ابادی- عمارت- تعمیر-

ودانېدل:(وَ-دا-نې-دل)مصدر لازم- (۱)جوړېدل- اباد‌ېدل- (۲)صاحب اولاد
کېدل-

ودانېدن:(وَ-دا-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ودانېدل-

ودانېدنګ:(وَ-دا-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ودانېدل-

ودانېدنه:(وَ-دا-نې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ودانېدل-

ودانېدونکے:(وَ-دا-نې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ودانېدونکي-
مؤنث ودانېدونکې- وګورئ ودانېدل-

ودانېده:(وَ-دا-نې-ده)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب
صیغه- وګورئ ودانېدل-

ودرول:(وَد-رَ-وَل)مصدر متعدی- قائمول- ولاړول- ایسارول- درول-

ودرولے:(وَد-رَ-وَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ودرول-

ودرون:(وَد-رَ-مون)حاصل مصدر- وګورئ ودرول-

ودرونکے:(وَد-رَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ودرونکي- مؤنث
ودرونکې- وګورئ ودرول-

ودرونګ:(وَد-رَ-وَنګ)حاصل مصدر- وګورئ ودرول-

ودرونه:(وَد-رَ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ودرول-

www.pukhto.net

ودرېدل:(وَد-رې-دَل)مصدر لازم- ایسارېدل- قائمېدل- درېدل-

ودرېدلے:(وَد-رې-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع وَدرېدلي- مؤنث وَدرېدلې- وګورئ ودرېدل-

ودرېدن:(وَد-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ودرېدل-

ودرېدنګ:(وَد-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ وَدرېدل-

ودرېدنه:(وَد-رې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ودرېدل-

ودرېدونکے:(وَد-رې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ودرېدونکي- مؤنث وَدرېدونکې- وګورئ وَدرېدل-

ودرېدهٔ:(وَد-رې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ وَدرېدل-

ودکټ:(وَد-کټ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ وتکټ-

ودګے:(وَد-ګَ-نے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ وادګے-

ودل:(وَ-دَل)مصدر متعدی- وَبدل- وربشل- جوړول- اوبدل-

ودلے:(وَ-دَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ وَدل-

ودن:(وَ-دَن)حاصل مصدر- وګورئ وَدل-

ودنګ:(وَ-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ وَدل-

ودنه:(وَ-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ وَدل-

ودونکے:(وَ-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ودل-

ودنے:(وَ-دَ-نے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ وندنے- جمع ودنی-

ودود:(وَ-دُود)اسم صفت- دوست- غښتونکے- مهربان- دَ الله تعالی یو صفتی نوم- (م- عربی)-

ودورے:(وَ-دو-رے)اسم صفت- بادورے- مست- هغه چې څهٔ ته ټینګ نهٔ وی-

ودول:(وَ-دَ-ول)مصدر متعدی- نکاح کول- کوروداني جوړول-

ودون:(وَ-دَ-ون)حاصل مصدر- وګورئ ودول-

ودونکے:(وَ-دَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ودونکی- مؤنث ودونکې- وګورئ ودول-

ودونګ:(وَ-دَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ودول-

ودونه:(وَ-دَ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ودول-

وده:(وَ-ده)اسم- واحد- مؤنث- ترقي- ببرازی- لوئېدنه- جمع ودې-

وده:(وَ-ده)اسم- واحد- مؤنث- د دم اجازه- جمع ودې-

ودېدل:(وَ-دې-دَل)مصدر لازم- وادهٔ کېدل- دَ ښځې پهٔ نکاح کېدل-

ودېدن:(وَ-دې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ ودېدل-

ودېدنګ:(وَ-دې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ ودېدل-

ودېدنه:(وَ-دې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ودېدل-

ودېدونکے:(وَ-دې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ودېدونکي- مؤنث ودېدونکې- وګورئ ودېدل-

ودېدهٔ:(وَ-دې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ ودېدل-

وړ:(وړ)اسم- واحد- مذکر- واټ- وېشکے- وټ- د زمکې لویه ټکړه-

وړ:(وړ)تابع مهمل- د کړ تابع مهمل لکه ګړوړ-

وړ:(وړ)اسم صفت- لوی- غټ-

وړکټ:(وړ-کټ)اسم- کمے زیاتے- وګورئ وتکټ-

وړیانی:(وړ-یا-نې)اسم- مؤنث- بوانی- لوئی- تکبر- غرور-

ور:(ور)اسم- واحد- مذکر- دروازه- تمبه- جمع وَرونه-

ور:(ور)سابقه- د غائب د طرف د پاره پکاروونکے حرف لکه ورتلل- وررسېدل وغیره-

ور:(ور)لاحقه- چې دَ څنی اسمونو پهٔ اخر کښې راتللو سره دَ فاعل معنٰی ورکوی لکه زرور- بختور وغیره-

ورا:(وَ-را/وَرا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ ښځو ګڼه چې دَ وادهٔ پهٔ موقع دَ ساوی کور ته ځی او بیا دَ ناوې دَ ډولی سره راځی- جمع وراګانې- (۲)وادهٔ-

ورا:(وَ-را)متعلق فعل/صفت- وګورئ ماوری-

ورابانړ:(ورا-بانړ)اسم- واحد- مذکر- دَ وادهٔ پهٔ جنج کښې شریک سړے- جنجی-

ورابانړې:(ورا-با-نړې)اسم- واحد- مؤنث- پهٔ وَرا کښې تلونکې ښځې-

وراښد:(ورا-ښد)اسم- واحد- مذکر- دَ بار دَ تړلو رسی-

ورابنے:(ورا-بَ-نے)اسم- واحد- مذکر- د اُوښ دَ کتې لرګے- جمع ورابني-

وراتل:(ورا-تل)مصدر- لوراتل- دنګل- پاڅېدل- منډه کول- څغلېدل- الوتل-

وراتنه:(ورا-تَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ وراتل-

وراثهٔ:(ورا-ثهٔ)صفت- وریت شوی- د وریت جمع-

وراثت:(وَ-را-ثَت)اسم- واحد- ذکر- ترکه- میراث- ورثه- لهٔ مړی پاتې شوے مال جائېداد- وراثه- جمع وراثتونه- (م- عربی)-

وراثه:(وَ-را-ثه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ وراثت-

وراجه:(ورا-جه)اسم- واحد- مؤنث- مارکه- د مړی بغوټی- جمع وراجې-

وراخه:(ورا-خه)اسم- واحد- مؤنث-(۱)دَ سېرلی باران- (۲)دَ کتې یو قسم- جمع وراخې-

وراره:(ورا-ره)اسم- واحد- مؤنث- وروړمېرې ښځه- جمع ورارې-

وراړهٔ:(ورا-ړهٔ)اسم- واحد- مذکر- دَ وروړ ځوې-

وراژه:(ورا-ژه)اسم- واحد- مؤنث- خنزیره- کجیره- یو قسم دانه چې پهٔ ځنې راځیږی-

وراوه:(ورا-وه)اسم- واحد- مؤنث- ګرمن- هغه ګرمن چې قصابی پرې کیږی- لهٔ ګرمنې جوړ پړے- وروینه-

وراستهٔ:(ورا-س-تهٔ)اسم صفت- جمع- مذکر- وګورئ وروست-

وراسه:(و-را-سه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ژغېدنه- جمع وراسې- (۲)وګورئ وراثه-

وراشکی:(وراش-کی)اسم- واحد- مؤنث- د توری پټی-

زبر "(ـَ سره)، وروکیے "(شل)، "پېښ "(ـُ کاسره)، زمر "(ـُ سـیاب)، "حزم "(شکوپ) "ء"(ر-یهٔ)، "ڼ"(ډ و-سي-دهٔ)

www.pukhto.net

وراشه:(و-را-شه)اسم- واحد- مؤنث- بیان- خبرې اترې- ژبه- مهارت-

وراغ:(وْ-راغْ)اسم- واحد- مذکر- کارګه- کاغه- کارغی- کاغْ- کارغهٔ-

وراګړے:(ورا-ګه-ړے)اسم- واحد- مذکر- پهٔ ورا تلونکے- جنجی- جمع وراګړی-

وران:(وران)اسم صفت- (۱)بربـاد- خراب- اجاړ- ړنګ- ویجاړ- خراب شوے- (۲)ورانے کوٙنکے- ذلیل- شریر- شیطان- وګورئ ورانکارے-

ورانبت:(ورا-ښت)اسم- واحد- مذکر- ورانے- بدی- دشمنی- برخلافی-

ورانکارے:(وران-کا-رے)اسم صفت- شریر- فسادی- خراب کاروٙنه کوٙنکے- مقصاتی- شیطان- ورانے کوٙنکے- جمع ورانکاری-

ورانګه:(ورانګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- دْ لرګی سره پرې له ول ورکوٙنه- جمع ورانګي-

ورانوالے:(وران-والے)اسم- د ورانېدو حالت-

وران وجاړ:(وران-و-جاړ)اسم صفت- خراب تراب- تالا ترغه- ویجاړ شوے- وران وران- وران ویجاړ-

وران وران:(وران-وران)اسم صفت- وګورئ وران ویجاړ-

ورانول:(وْرا-نه-ول)مصدر متعدی- ختمول- ویجاړول- ویرانول- دْ کار نه ویستل- پهٔ بل مخ اړول- تباه کول- بربادول- ویجاړول- خرابول- ړنګول-

ورانون:(وْرا-نه-ون)حاصل مصدر- وګورئ ورانول-

ورانوکے:(ورا-نه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ورانونکی- مؤنث ورانونکې- وګورئ ورانول-

ورانګونګ:(وْرا-نه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ورانول-

ورانونه:(وْرا-نه-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ورانول-

ورانه:(وْرا-نه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)بْغض- دشمنی- مخالفت- بدی- (۲)دْ وران مؤنث- وګورئ وران-

ورانه ودانه:(وْرا-نه- وُ-دا-نه)اسم- واحد- مؤنث- نېکی بدی- ښهٔ بده- جوړه ناجوړه- جمع ورانې ودانې-

وران ویجاړ:(وْران-وی-جاړ)صفت- وګورئ وران وجاړ-

ورانه ویجاړه:(وْرا-نه-وی-جا-ړه)صفت- واحد- مؤنث- تالا ترغه- جمع ورانې ویجاړې-

ورانېدل:(ورا-نې-دل)مصدر لازم- لهٔ کاره وتل- خرابېدل- دښمنی جوړېدل-

ورانېدن:(ورا-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ورانېدل-

ورانېدنګ:(ورا-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ورانېدل-

ورانېدنه:(وْرا-نې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ ورانېدل-

ورانېدوکے:(وْرا-نې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ورانېدونکی- مونث ورانېدونکې- وګورئ ورانېدل-

ورانېدهٔ:(ورا-نې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ ورانېدل-

ورانے:(ورا-نے)اسم- خرابے- دښمنی- پتنه- فتنه- نقصان- اړیته- خبیته- جمع ورانی-

ورايه:(ورا-یه)صفت متعلق فعل- لهٔ لرې- پهٔ فاصله- دْ لهٔ حرف جار سره استعمالیږی-

وربانډې:(وْر-بان-ډې)حرف جار- پهٔ هغهٔ بانډې- پهٔ هغې بانډې- دْ بانډې سره د ور دْ غائبانه لاحقې نه جوړ تورے-

وربخله:(ور-به-خله)اسم- واحد- مؤنث- اوربخوله- پېنګه- پاینګه-

وربشه:(ور-به-شه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)یو قسم غله- اوربشه- اربشه نباتاتی نوم هارډیم ولګیر HORDEUM VULGARE- (۲)عمر- روزی- (دْ ژوند سره پهٔ استعمال)جمع وربشې-

وربشه:(وْر-به-شه)اسم- واحد- مؤنث- دْ پکې میاشت-

وربشينه:(وْر-به-شي-نه)اسم- واحد- مؤنث- روټه دْ اْربشونه جوړه روټۍ چې دْ اْربشو دْ اْوړو نه جوړه وی- جمع وربشینې-

وربل:(وْر-بل)اسم- مذکر- تېکه- کلے- د ښځې پهٔ تندی وېښتهٔ- بندکے- اوربل-

وربلې:(ور-به-لې)اسم- جمع- مؤنث- تنګې ښکې چې جینکۍ یٔ پهٔ جامو جوړوی-

وربنګ وهل:(ور-بنګ-و-هل)مصدر ترکیبی- ټک وهل- ټنګ وهل- ویشتل- وربېټ منځه کول-

وربوز:(وْر-بوز)اسم- واحد- مذکر- دْ ځناور خُله- دْ انسان مخ- مخ- شکل- حلیه- موشاده- مُشاده- جمع وربوزی-

وربوزے:(وْر-بو-زے)اسم- واحد- مذکر- دْ دروازې غلام- جمع وربوزی-

وربويه:(ور-بو-يه)اسم- واحد- مؤنث- نهری زمکه چې اْبهٔ لری- کلی سره نژدې زمکه-

وربوټے:(وْر-بو-ټے)اسم- واحد- مذکر- غولے- انګړ-

وربه:(وْر-به)اسم- واحد- مذکر- دربان- ورساتے-

وربه ګان:(ور-به-ګان)اسم- مذکر- دْ وربه جمع- څوکیداران- غاړچیان- ورساتی-

وربيز:(ور-بیز)اسم- واحد- مذکر- وربوز- پوزه- اوږد مخ عموماً دْ ځناورو-

وربېسې:(ور-په-سې)متعلق فعل- شا ته- وروستو-

وربکښې:(ور-په-کښې)حرف جار- (۱)ورکښې- دننه- (۲)صفت- کونی-

وربورک:(ور-پو-رک)اسم- دروازه-

وربورې:(ور-پو-رې)متعلق فعل- ورسره خوا کښې- پهٔ وړتنه- کوزنامتې- لګېدلے-

وربوکل:(ور-پو-کل)مصدر متعدی- اور ته پوکے ورکول-

وربهٔ زړهٔ:(ور-پهٔ-زړهٔ)صفت- چا ته راياد-

ورت:(وْرت)اسم صفت- اْرت- سست-

ورت:(وْرت)اسم- واحد- مذکر- د ماشومانو یوه لوبه-

ګ" (ګی-رْل)، ګې"(مې-ر-مول)، ګ"(پیاسلی)، ګے"(تن-دیے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

ورتارک:(ور-تار-که)اسم- واحد- موئث- مرواره دانه-
ورتر:(ور-تر)اسم- واحد- مذکر- بربند- سرواړه بندوکے-
ورتک:(ور-تک)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ورتل-
ورتل:(ور-تل)مصدر- (۱)سپیسی وربشل- تلوول- وبشل- (۲)توپ وهل-
ورتلل:(ور-تلل)مصدر لازم- د چا په طرف تګ کول- چا ته ځان رسول- د چا په لور تلل-
ورتلن:(ور-تلن)حاصل مصدر- وګورئ ورتلل-
ورتلنه:(ور-تل-نه)حاصل مصدر- وګورئ ورتلل-
ورتلونکے:(ور-تلون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ورتلونکي- مؤنث ورتلونکې- وګورئ ورتلل-
ورتن:(ور-تن)حاصل مصدر- وګورئ ورتل-
ورتنه:(ور-تنه)حاصل مصدر- وګورئ ورتل-
ورتول:(ور-ته-ول)مصدر- (۱)وریتول- په اور پخول- (د غوښې ښوروا لګه غوښه وغیره- (۲)سخته ګرمي رسول-
ورتون:(ور-ته-ون)حاصل مصدر- وګورئ ورتول-
ورتونکے:(ور-ته-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ورتونکي- مؤنث ورتونکې- وګورئ ورتول-
ورتونګ:(ور-ته-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ورتول-
ورتونه:(ور-ته-ونه)حاصل مصدر- وګورئ ورتول-
ورته:(ور-ته)صفت- (۱)لري- (۲)متعلق فعل- هلته- هغه ځائ-
ورته:(ور-ته)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وریته بینه- دانه- هغه دانه چې پوله نه شي- (۲)وریته کړی غوښه- تیکه- جمع ورتې-
ورته:(ور-ته)حرف جار- بل ته- هغو ته- (د غائب صیغه کښې)-
ورته:(ور-ته)صفت- نږدې-
ورته:(ور-ته)اسم- واحد- مؤنث- سکښتې شوې وری-
ورته:(ور-ته)اسم- شرکت- ښکار-
ورته والے:(ور-ته-وا-لے)اسم- د چا سره تړون لرنه- نږدې والے-
ورتینه:(ور-تي-نه)اسم- واحد- مؤنث- لرتینه- ښځه- عورته-
ورتې:(ور-تې)اسم- جمع- مؤنث- واحد- ورته- (۱)وریتې تیکې- (۲)ججبی- سبي-
ورتېدل:(ور-تې-دل)مصدر لازم- (۱)په اور سوزېدل- ترقېدلے کېدل- په اور نلېدل- (۲)اذیت ورکېدل-
ورتېدن:(ور-تې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ورتېدل-
ورتېدنګ:(ور-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ورتېدل-
ورتېدنه:(ور-تې-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ ورتېدل-
ورتېدونکے:(ور-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ورتېدونکي- مؤنث ورتېدونکې- وګورئ ورتېدل-
ورتېدهٔ:(ور-تې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ ورتېدل-

ورټ:(ورټ)متعلق فعل- د ژړا سره استعمالیږی لکه ورټ یې وژړل-
ورټک وهل:(ور-ټک-و-هل)مصدر- په زور سره ورډنته کول-
ورټ ورټ:(ورټ-ورټ)متعلق فعل- د مسلسل ژړا سره استعمالیږی- ژړېدنه- لکه په ورټ ورټ یې وژړل-
ورټې ورټې:(ور-ټې-ور-ټې)صفت- د مسلسلو اوښو د صفت په طور استعمالیږی- لکه ورټې ورټې اوښې یې توی کړې-
ورثه:(ور-ثه)اسم- واحد- مؤنث- میراث- ترکه- پاتې شوې مال یا جائیداد- جمع [illegible]-
ورځ:(ورځ)اسم- واحد- مذکر- د شپې ضد- د شپاروز هغه حصه چې نمر پکښې وي- د میاشتې دېرشمه حصه-
ورځپاڼه:(ورځ-پا-ڼه)اسم- واحد- مؤنث- اخبار- روزنامه-
ورځ په ورځ:(ورځ-په-ورځ)متعلق فعل- هره ورځ- روزانه-
ورځ چارې:(ورځ-چا-رې)صفت- د ورځو په حساب کار کونکے-
ورځلوی:(ورځ-لوی)اسم- قیامت- لویه ورځ- د محشر ورځ-
ورځني:(ور-ځه-ني)حرف جار- د هغه نه- ورنه- تری-
ورځنے:(ور-ځه-نے)صفت- روزانه- ورځ سره منسوب-
ورخول:(ور-خه-ول)مصدر- پوپ وهل- ورتل-
ورخونه:(ور-خه-ونه)حاصل مصدر- وګورئ ورخول-
ورځه:(ور-ځه)امر- د ورتلل مصدر نه امر- وګورئ ورتلل-
ورځي:(ور-ځي)اسم- واحد- مؤنث- وراه- د ښځو جمع چې د واده په ورځ د ملوی کور ته ځي-
ورځ یوې:(ورځ-یو-وې)اسم- واحد- مؤنث- چې یوه ورځ کښې قلبه کومه زمکه اروی-
ورچانې:(ور-چا-نې)متعلق فعل- بهر- له وره بهر- ورڅنې- ورڅې- ورچینې-
ورچنیز:(ور-چه-نیز)صفت- بهرنے-
ورچنې:(ور-چه-نې)متعلق فعل- وګورئ ورچانې ورچینې-
ورچینې:(ور-چي-نې)متعلق فعل- وګورئ ورچانې- د کور نه بهر- بهر- ورچنې-
ورخځول:(ور-خ-ځول)مصدر متعدی- (۱)غوږ کښې ځځول- غوږ ته اچول- (۲)لو لو ورکول-
ورخځه:(ور-خ-ځه)حرف جار- ورسره-
ورخک:(ور-خک)اسم- واحد- مذکر- ورسکے- وریوز- پوزه- څرګه-
ورخېرمه:(ور-خېر-مه)صفت- نږدې- پیوست-
ورخېلمه:(ور-خېل-مه)صفت- وګورئ ورخېرمه-
ورځ:(ورځ)اسم- واحد- مذکر- هغه نالئ چې پټي ته پری اُبهٔ تیرېږی- ناکه ابو ته تړلے بند- د ابو خور د تقسیم سربب- ارخ- د بدن یوه پوره صرف-

زبر (ح-یه-ره)، زورکے (شل)، پېښ (نو-کا-ره) زمر (ک-ساب)، جزم (شکون) ه (ر-یه) ، ٹ (وو-مي-دهٔ)

www.pukhto.net

ورخارے:(ور-خا-رے)اسم صفت- واحد- مذکر- لاړڼ-

ورخارے:(ور-خا-رے)اسم- واحد- مذکر- د کږو بیزو یو مرض- لرخارے-

ورخارے:(ور-خا-رے)اسم- واحد- مذکر- یو ساګ چي د سلاد په طور هم استعمالیږي- نباتاتي نوم پارټولیکا اولریکا (PORTULACA OLERACEA)-

ورختل:(ور-خه-تل)مصدر متعدي- په چا حمله کول- بره ورتلل- ورودانګل-

ورختلے:(ور-خه-تلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ورختل-

ورختن:(ور-خه-تن)حاصل مصدر- وګورئ ورختل-

ورختنګ:(ور-خه-تنګ)حاصل مصدر- وګورئ ورختل-

ورختنه:(ور-خه-تنه)حاصل مصدر- وګورئ ورختل-

ورختونکے:(ور-خه-تون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ورختونکي- مؤنث ورختونکې- وګورئ ورختل-

ورخته:(ور-خه-ته)اسم- واحد- مؤنث- چیرچاړ- حمله- ورختې- وګورئ ورختې-

ورختۀ:(ور-خه-تۀ)حاصل مصدر- وګورئ ورختل-

ورختې:(ور-خه-تې)اسم- جمع- مؤنث- ورانیے- مستي- په یو بل حمله ورخته-

ورختے:(ور-خه-تے)صفت- ورختلے- حمله کونکے- جمع ورختي-

ورخول:(ور-خه-ول)مصدر لازم- غل پرې کول-

ورخره:(ور-خه-ره)اسم- واحد- مؤنث- خخله- خشاک- لرګي- ملن- جمع ورخرې-

ورخطا:(ور-خ-طا)صفت- وروان (په تېزۍ)- ورشتی-

ورخه:(ور-خه)اسم- واحد- مؤنث- وره ناله- جمع ورخې- وګورئ ورخ-

ورخیره:(ور-خی-ره)اسم- واحد- مؤنث- د کرکې نه بکه خبره- جمع ورخیرې-

ورخیزه:(ور-خی-زه)اسم- واحد- مؤنث- هغه زمکه چې اُبو نه نژدې وي-

ورخیمخه:(ور-خیم-خه)اسم- واحد- مؤنث- کجه غرمه- غلبت-

ورد:(ورد)اسم- واحد- مذکر- ګلاب- ګل- جمع وردونه-

ورد:(ورد)اسم- واحد- مذکر- هغه کار چې روزانه کیږي او ناغه پکښې نه وي- وظیفه- جمع وردونه-

وردانګل:(ور-دانګ-ګل)فعل- ورټوپ‌ول- ورجوکل- څه ته ټوپ کول- ورغرځېدل- ورټوپ کول-

وردي:(ور-دي)اسم- واحد- مؤنث- د سپاهي سرکاري لباس-

وردول:(ور-ده-ول)مصدر متعدي- جدا کول- شلول-

وردون:(ور-ده-ون)حاصل مصدر- وګورئ وردول-

وردونکے:(ور-ده-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع وردونکي- مؤنث وردونکې- وګورئ وردول-

وردونګ:(ور-ده-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ وردول-

وردونه:(ور-ده-ونه)حاصل مصدر- وګورئ وردول-

وردېدل:(ور-دي-دل)مصدر لازم- جېلو کېږي جدا کېدل- جامې شلېدل-

وردېدلے:(ور-دي-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع وردېدلي- مؤنث وردېدلې- وګورئ وردېدل-

وردېدن:(ور-دي-دن)حاصل مصدر- وګورئ وردېدل-

وردېدنګ:(ور-دي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ وردېدل-

وردېدنه:(ور-دي-دنه)حاصل مصدر- وګورئ وردېدل-

وردېدونکے:(ور-دي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع وردېدونکي- مؤنث وردېدونکې- وګورئ وردېدل-

وردېدۀ:(ور-دي-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ وردېدل-

وررز:(ور-رز)اسم- واحد- مذکر- مرز- وروز- نمږز- نورز- سائنسي نوم کوترنکس (COTURNIX)-

ورزا:(ور-زا)اسم- نری ذری کرے- قیمه کونه- ورژا-

ورزږ:(ور-زږ)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ورروز-

ورزش:(ور-زش)اسم- واحد- مذکر- وجود ته مسلسل حرکت ورکونه- خواري- مشق- تویت- (م- فارسي)-

ورزل:(ور-زل)مصدر متعدي- ریزه ریزه کول- میده کول- قیمه کول- ټکول- ریچې کول-

ورزلے:(ور-زلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ورزل-

ورزنه:(ور-زنه)حاصل مصدر- وګورئ ورزل-

ورزو:(ور-زو)اسم- واحد- مذکر- کرکه- نفرت-

ورزول:(ور-زه-ول)مصدر متعدي- (۱)ریزه ریزه کول- میده کول- قیمه کول- ټکول- ریچې کول- (۲)مکول- ارچت لوچت کول- پورته پورته کول-

ورزون:(ور-زه-ون)حاصل مصدر- وګورئ ورزول-

ورزونکے:(ور-زه-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ورزول-

ورزونه:(ور-زه-ونه)حاصل مصدر- وګورئ ورزول-

ورزېدل:(ور-زي-دل)مصدر لازم- میده قیمه کېدل- ټکېدل- ریچې کېدل-

ورزېدلے:(ور-زي-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ورزېدل-

ورزېدن:(ور-زي-دن)حاصل مصدر- وګورئ ورزېدل-

ورزېدنه:(ور-زي-دنه)حاصل مصدر- وګورئ ورزېدل-

ورزېدونکے:(ور-زي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ورزېدل-

ورزېدۀ:(ور-زي-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صیغه- وګورئ ورزېدل-

ورڅا:(ور-څا)اسم- وګورئ ورزا-

ورڅل:(ور-څل)مصدر متعدي- (۱)وګورئ ورزل- (۲)ژوبلول-

ورڅن:(ور-څن)حاصل مصدر- وګورئ ورڅل-

ورڅنګ:(ور-څنګ)حاصل مصدر- وګورئ ورڅل-

ورڅنه:(ور-څنه)حاصل مصدر- وګورئ ورڅل-

ی: (ښی-رل)، ې: (مې-ره-ول)، ۍ: (پیا-لۍ)، ۀ: (تن-دې) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

ورژنکے (ور-ژَن-کے) اسمِ فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ورژل-

ورژونے (ور-ژو-نے) اسم- واحد- مذکر- د لیټي په شان د خوراک یو قسم چي له اوړو پخولے شي او غوړي او تری پکښې اچولے شي-

ورو (ورو) اسم- واحد- مذکر- د اس یا د اسپې د ښځ وبښته ایلۍ-

وروه (ور-ه) اسم- واحد- مؤنث- زغلنځه- یوه مشهوره حشره چي سور رنګ لري او په ټوپونو ګرځي- چرته چي انسان وچیچي هغه ځاي ویرسیری او خارښت پیدا کړي- کله کله د طاعون د خورېدلو ذریعه ګرځي-

وروڼه (ور-ړه) اسم- جمع- مذکر- وارونه اورونه- واروه- وارژه-

ورساتونے (ور-سا-تو-نے) اسم- واحد- مذکر- د دروازې څوکیدار- ورساتے-

ورساتے (ور-سا-تے) اسم- واحد- مذکر- څوکیدار- دربان- قاپوچی- غاوچی- وربه- ورساتونے-

ورستارے (ور-ستا-رے) صفت- وګورئ وروستارے-

ورستن (ور-ستن) اسم- واحد- مؤنث- برستن- نیالی- نالی- نهالی-

ورستنول (ور-ستہ-نہ-ول) مصدر متعدی- ورواپس کېدل- بېرته ورلېږل- سرته ورکول- وګورئ ورستېول-

ورستنون (ور-ستہ-نہ-ون) حاصل مصدر- وګورئ ورستنول-

ورستونکے (ور-ستہ-نہ-ون-کے) اسمِ فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ورستنول-

ورستونګ (ور-ستہ-نہ-ونګ) حاصل مصدر- وګورئ ورستنول-

ورستونه (ور-ستہ-نہ-ونہ) حاصل مصدر- وګورئ ورستنول-

ورستندل (ور-ستہ-نې-دل) مصدر لازم- ورواپس کېدل- بېرته ورتلل- وګورئ ورستېدل-

ورستېدن (ور-ستہ-نې-دن) حاصل مصدر- وګورئ ورستندل-

ورستېدنه (ور-ستہ-نې-دنہ) حاصل مصدر- وګورئ ورستېدل-

ورستېدونکے (ور-ستہ-نې-دون-کے) اسمِ فاعل- جمع ورستېدونکي- مؤنث ورستندونکې- وګورئ ورستندل-

ورستېده (ور-ستہ-نې-دہ) حاصل مصدر او د ماضي استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ ورستندل-

ورستنے (ور-ستہ-نے) صفت- اخرنے- آخری- پاتې- وروستنے- ورستیے- زروستے-

ورستو (ور-ستو) اسم صفت- وروستو- شا ته- پاتې- آخری- د زراندی ضد-

ورستوالے (ور-ست-وا-لے) اسم- واحد- مذکر- زوروالے-

ورستول (ور-ستہ-ول) مصدر متعدی- زړول- ناقابل استعمال کول-

ورستون (ور-ستہ-ون) حاصل مصدر- وګورئ ورستول-

ورستونول (ور-ستو-نہ-ول) مصدر متعدی- بېرته کول- په شته کول- واپس کول- وګورئ ورستنول سره د لوازماتو-

ورستونګ (ور-ستہ-ونګ) حاصل مصدر- وګورئ ورستول-

ورستونه (ور-ستہ-ونہ) حاصل مصدر- وګورئ ورستول-

ورستونېدل (ور-ستو-نې-دل) مصدر لازم- په شته کېدل- واپس کېدل- سرته کېدل- وګورئ ورستېدل سره د لوازماتو-

ورستوونکے (ور-ستہ-وون-کے) اسمِ فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ورستول-

ورسته (ور-ستہ) اسم صفت- واحد- مؤنث- د وروست مؤنث ضعیفه- زړه- فرسوده-

ورستیے (ور-ستی-یے) صفت- وګورئ ورستے-

ورستېدل (ور-ستې-دل) مصدر لازم- له کاره وتل- زړېدل- د استعمال قابل نه پاتې کېدل- فرسوده کېدل-

ورستېدن (ور-ستې-دن) حاصل مصدر- وګورئ ورستېدل-

ورستېدنګ (ور-ستې-دنګ) حاصل مصدر- وګورئ ورستېدل-

ورستېدنه (ور-ستې-دنہ) حاصل مصدر- وګورئ ورستېدل-

ورستېده (ور-ستې-دہ) حاصل مصدر او د ماضي استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ ورستېدل-

ورستې (ور-ستې) اسم صفت- مؤنث- د ورستو مؤنث- شا ته- وروستې-

ورسره (ور-س-رہ) حرف جار- نژدې- خوا په خوا- لګېدلے-

ورسره ورسره (ور-س-رہ-ور-س-رہ) متعلق فعل- نژدې نژدې- نژدې نژدې-

ورسک (ور-سک) اسم- واحد- مذکر- (۱) د مخ هغه حصه چي وېښته پرې وی- شونډه- (۲) د دوو غرونو په مینځ کښې تنګه لاره- (۳) وېښته- تربوزک- (۴) بېزه- (۵) کوم ځاي چي غر او میدان یو ځاي شوي وی- (۶) د خره یا د اوښ پوزه- (۷) هغه پګړی چي د زني لاندې تړلے شوي وی او مخ پرې پټ شوے وی- (۸) غاړه- پښتۍ- جمع ورسکونه-

ورشاړی (ور-شا-ړی) اسم- واحد- مذکر- اورشاړی- چقمق ټوپک- چقماق ټوپک-

ورشکی (ور-ش-کی) اسم- واحد- مؤنث- د ثورې پټۍ- چي توره پکښې اچولے شي-

ورشمے (ور-شمے) اسم- واحد- مذکر- د مړی روح ته د ثواب بخښلو په خاطر د وروستې ناوختو خیرات-

ورسم (ور-شم) اسم- واحد- مؤنث- شوندې- شونډه-

ورشو (ور-شو) اسم- واحد- مؤنث- د څارو او څناورو د څرن ځاي- وابنه لرونکے میدان- چراګاه- څرنځاي- جمع ورشوګانې-

ورښ (ور-ښ) اسم- واحد- مذکر- (۱) وږمه- نرے باد- شمال- اېشمه (۲) د اس په څټ ولاړ وېښته-

ورښت (ور-ښت) اسم- واحد- مذکر- (۱) ورېدنه- ورو- (۲) واوره ورېدنه- واوره کېدنه- راپرېوتنه-

وربغتی (ور-بغ-تی) اسم- جمع- مذکر- ورغښتی- بادام- نباتاتی نوم ټرمینیلیا کیټپیا (TERMINALIA CATAPPA) یا امیګډیلس کمیونس (AMYGDALUS COMMUNIS)-

وربنکے (ور-بن-کے) اسم- واحد- مذکر- تسمه- تراوه- باده- جمع وربنکي-

ورېنودل (ور-ښو-دل) مصدر متعدی- ښکاره کول- ښودل- وروزده کول-

زبر (ح-بہ-رہ)، زور کے (شل)، پېښ (فو-کا-رہ)، زبر (کښتاب)، حوم (شکون)، ه (ر-رہ)، ۂ (پو-سې-دۂ)

www.pukhto.net

زربهوول- وربهېل-

وربهودن:(ور-بهو-دن)حاصل مصدر- وګورئ وربهودل-

وربهودنګ:(ور-بهو-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ وربهودل-

وربهودنه:(ور-بهو-دنه)حاصل مصدر- وګورئ وربهودل-

وربهودونکے:(ور-بهو-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ وربهودل-

وربهوول:(ور-بهو-ول)مصدر متعدی- وګورئ وربهودل-

وربهوولے:(ور-بهو-و-لے)اسم مفعول- جمع وربهوولی- مؤنث وربهوولې- وګورئ وربهوول-

وربهوون:(ور-بهو-ون)حاصل مصدر- وګورئ وربهوول-

وربهونکے:(ور-بهو-ون-کے)اسم فاعل- جمع وربهونکی- مؤنث وربهونکې- وګورئ وربهوول-

وربهوونګ:(ور-بهو-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ وربهوول-

وربهوونه:(ور-بهو-ونه)حاصل مصدر- وګورئ وربهوول-

وربهېل:(ور-بهې-ل)مصدر متعدی- وګورئ وربهودل-

وربهېلے:(ور-بهې-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع وربهېلی- مؤنث وربهېلې- وګورئ وربهېل-

وربهېن:(ور-بهې-ن)حاصل مصدر- وګورئ وربهېل-

وربهېنه:(ور-بهې-نه)حاصل مصدر- وګورئ وربهېل-

وربهېونکے:(ور-بهې-ون-کے)اسم فاعل- جمع وربهېونکی- مؤنث وربهېونکې- وګورئ وربهېل-

ورطه:(ور-طه)اسم- واحد- مؤنث- ګرداب- د هلاکت ځاۍ- (م- عربی)-

ورع:(و-رع)اسم صفت- واحد- مؤنث- پرهېزګاری- (م- عربی)-

ورع:(و-رع)اسم- واحد- مذکر- (۱)هوش- حواس- ولر پار- (۲)ایماندارۍ- (م- فارسی)-

ورغاست:(ور-غاست)اسم- واحد- مذکر- حمله- یرغل-

ورغاستل:(ور-غاس-تل)مصدر لازم- حمله کول-

ورغاستلے:(ور-غاس-ت-لے)اسم مفعول- جمع ورغاستلی- مؤنث ورغاستلې- وګورئ ورغاستل-

ورغاستن:(ور-غاس-تن)حاصل مصدر- وګورئ ورغاستل-

ورغاستنه:(ور-غاس-تنه)حاصل مصدر- وګورئ ورغاستل-

ورغاستونکے:(ور-غاس-تون-کے)اسم فاعل- جمع ورغاستونکی- مؤنث ورغاستونکې- وګورئ ورغاستل-

ورغالے:(ور-غا-لے)اسم- واحد- مذکر- نغرے- انغرے- آتشدان- اورغالے-

ورغاني:(ور-غا-ني)اسم- واحد- مؤنث- د غنمو اوړه چې خمبیره شی- خمیره- هغه لوه خمبیره چې په کولبی کښې د نورو اوړو د خمیره کولو د پاره ساتلے کیږی-

ورغانے:(ور-غا-نے)اسم- واحد- مذکر- د اندازې نه کار اخستنه- قیاس- اټکل- (د څکول مصدر سره)-

ورغږ:(ور-غږ)اسم- واحد- مذکر- په وله یا اُبو کښې زوږ ځاۍ- د غړه لمن-

ورغوړے:(ور-غو-ړے)اسم- واحد- مذکر- د اُبو تل- د اُبو بېخ-

ورغږېدل:(ور-غ-ږې-دل) مصدر متعدی- ورغږېدل- ورګزارېدل- وروېوتل-

ورغستل:(ور-غس-تل)مصدر متعدی- ورغاندل- ټکول- ډل کول-

ورغستلے:(ور-غس-ت-لے)اسم صفت- ټکول شوے- دل شوی(جوار یا غنم)-

ورغندل:(ور-غن-دل)مصدر متعدی- ورلاندی کول-

ورغومے:(ور-غو-مے)اسم- واحد- مذکر- (۱)د چېلی بچے- چیلوکے- (۲)د شمسی کال لسمه میاشت- (۳)د اسمان لسم برج-

ورغوے:(ور-غو-وے)اسم- واحد- مذکر- تلے- د لاس تلے-

ورغه:(ور-غه)اسم- واحد- مذکر- کارغه- ورړغ-

ورغی:(ور-غی)اسم- واحد- مؤنث- هغه تورکے چې د لوګی په وجه چت بالندی نښتے وي-

ورق:(ورق)اسم- واحد- مذکر- صفحه- پاڼه- (م- عربی)-

ورقه:(ور-قه)اسم- واحد- مؤنث- پاڼه- د کتاب صفحه- جمع ورقې- (م- عربی)-

ورک:(ورک)صفت- چې د انسان له نظره پټ یا لرې وی- نه ښکارېدونکے- نه پیدا کېدونکے- ضائع-

ورکړه:(ور-کړه)اسم- واحد- مؤنث- خیرات- صدقه- بخښنه- د ورکول مصدر نه اسم او امر-

ورکړه واکړه:(ور-کړه-وا-کړه)اسم- مؤنث- معامله- خپلوی کونه- رشته کونه- لین دین-

ورک لارے:(ورک-لا-رے)اسم- هغه سړے چې لاره ئې بې درکه کړې وی- ورک سوے- بې درکه- جمع ورک لاری-

ورک نیونے:(ورک-نیو-نے)اسم صفت- سخت منین- شیدا-

ورک مانے:(ورک-ما-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- خنده رویه- خوش مزاجه-

ورک موغه:(ورک-مو-غه)اسم- واحد- مذکر- بو خیالی مارغه- عنقا-

ورک نومے:(ورک-نو-مے)اسم صفت- واحد- مذکر- چې مشهور نه وی- نوم ورکے- بې نام ونشان- ګمنام- جمع ورک نومی-

ورکوټوالے:(ور-کوټ-وا-لے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ وړوکتوب-

ورکوزول:(ور-کو-ز-ول)مصدر متعدی- (۱)وربښکته کول- لاندې وروستل-

ورکوزون:(ور-کو-ز-ون)حاصل مصدر- وګورئ ورکوزول-

ورکوزونکے:(ور-کو-ز-ون-کے)اسم فاعل- وګورئ ورکوزول-

ورکوزونګ:(ور-کو-ز-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ورکوزول-

ورکوزونه:(ور-کو-ز-ونه)حاصل مصدر- وګورئ ورکوزول-

ورکوزېدل:(ور-کو-زې-دل)مصدر لازم- ښکته ورتلل- کوز ورتلل- لاندې ورتلل-

ورکوزېدن:(ور-کو-زې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ورکوزېدل-

ورکوزېدنګ:(ور-کو-زې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ورکوزېدل-

www.pukhto.net

ورکوزېدمه:(ور-کو-زې-دَ-مَه)حاصل مصدر- وګورئ ورکوزېدل-

ورکوزېدونکے:(ور-کو-زې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ورکوزېدونکي- مؤنث ورکوزېدونکې- وګورئ ورکوزېدل-

ورکوزېده:(ور-کو-زې-دَه)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ ورکوزېدل-

ورکول:(ور-کَه-وَل)مصدر متعدي- (۱)ميبل- عطاکول- دَ خپلې قبضې نه د بل قبضې ته سپارل- حواله کول- (۲)ورمل- (څپېړه ورکول)- (۳)اجاري کول- (سزا- حکم وغيره)-

ورکول:(ورَ-کَ-وَل)مصدر متعدي- ضايع کول- لاپته کول- ختمول- بې درکه کول- وګورئ ورک-

ورکون:(ور-کَ-وُن)حاصل مصدر- وګورئ ورکول-

ورکون:(ورَ-کَ-وُن)حاصل مصدر- وګورئ ورکول-

ورکونه:(ور-کَ-وَ-نَه)حاصل مصدر- وګورئ ورکول-

ورکونه:(ورَ-کَ-وَ-نَه)حاصل مصدر- وګورئ ورکول-

ورکوونکے:(ور-کَ-وُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ورکول ۱-

ورکوونکے:(ورَ-کَ-وُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ورکول ۲-

ورکه:(ور-کَه)د فعل نه امر ورکړه- ورکول-

ورکه:(ورَ-کَه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)ورک شوے- ورکه شوې- بې درکه- (۲)هغه چوکه کښې خالي ځايونو کښې دَ بوزغلې يا تخم اچونه- (۳)صفت ورک شوے څيز-

ورکېدل:(ور-کې-دَل)مصدر لازم- ورکړے کېدل- د ورکول مصدر لازم-

ورکېدل:(ورَ-کې-دَل)مصدر لازم- ختمېدل- بې درکه کېدل- لاپته کېدل- ورک کېدل-

ورکېدن:(ورَ-کې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ ورکېدل ۲-

ورکېدن:(ور-کې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ ورکېدل ۱-

ورکېدنګ:(ورَ-کې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ ورکېدل ۲-

ورکېدنګ:(ور-کې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ ورکېدل ۱-

ورکېدمه:(ورَ-کې-دَ-مَه)حاصل مصدر- وګورئ ورکېدل ۱-

ورکېدمه:(ور-کې-دَ-مَه)حاصل مصدر- وګورئ ورکېدل ۱-

ورکېدونکے:(ورَ-کې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ورکېدل ۲-

ورکېدونکے:(ور-کې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ورکېدونکي- مؤنث ورکېدونکې- وګورئ ورکېدل ۱-

ورکېده:(ورَ-کې-دَه)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ ورکېدل ۲-

ورکېده:(ور-کې-دَه)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ ورکېدل ۱-

ورګ:(ورګ)اسم- واحد- مذکر- وری-

ورګ:(ورګ)صفت- (۱)يو کلنے ورېر- (۲)اوبخه کلنے ګډ- مؤنث ورګه-

ورګې:(ور-ګې)اسم- واحد- مذکر- مؤنث ورګېه- بې تامله- بې مُحابا- بې ويرې د هر څۀ نه ورتېر- بې پروا-

ورګېول:(ور-ګې-وَل)مصدر متعدي- يو ځاے کول- شاملول-

ورګېون:(ور-ګې-وُن)حاصل مصدر- وګورئ ورګېول-

ورګېونګ:(ور-ګې-وُنګ)حاصل مصدر- وګورئ ورګېول-

ورګېونه:(ور-ګې-وَ-نَه)حاصل مصدر- وګورئ ورګېول-

ورګېوونکے:(ور-ګې-وُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ورګېول-

ورګېه:(ور-ګې-ه)اسم- واحد- مؤنث- شامله-

ورګېے:(ور-ګې-ے)صفت- وګورئ ورګې-

ورګن:(ور-ګن)اسم- واحد- مذکر- پشم ريشه-

ورګه:(ور-ګه)اسم- واحد- مؤنث- د غوړونو پوسکي-

ورګه:(ور-ګه)صفت- دَ ورګ مؤنث- وګورئ ورګ-

ورلاندې:(ور-لان-دې)حرف جار- وربشکته- ورکوز- (دَ لاندې سره دَ ور پۀ عاسانه لاحقه جوړ شوے تکے)-

ورلره:(ور-لَه-رَه)حرف عطف- هغۀ لره- هغې لره- ورته- (دَ لره سره دَ ور پۀ عاسانه لاحقه جوړ شوے توړے)-

ورلېښتے:(ور-لېښ-تے)اسم- واحد- مذکر- بادام- جمع ورلېښتي-

ورلغت:(ور-لَه-غت)متعلق فعل- پۀ پوهېده پۀ لګه- (د اس يا د سورلۍ يا د بل ځناور دَ تيز تللو د پاره استعماليږي)-

ورلغتول:(ور-لَه-غَه-تَه-وَل)مصدر متعدي- اس يا بل کوم دَ سورلۍ ځناور تيز چلول-

ورلغتون:(ور-لَه-غَه-تَه-وُن)حاصل مصدر- وګورئ ورلغتول-

ورلغتوونکے:(ور-لَه-غَه-تَه-وُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ورلغتوونکي- مؤنث ورلغتوونکې- وګورئ ورلغتول-

ورلغتونګ:(ور-لَه-غَه-تَه-وُنګ)حاصل مصدر- وګورئ ورلغتول-

ورلغتونه:(ور-لَه-غَه-تَه-وَ-نَه)حاصل مصدر- وګورئ ورلغتول-

ورلول:(ور-لَه-وَل)مصدر متعدي- حامله کول- بلاربول-

ورلون:(ور-لَه-وُن)حاصل مصدر- وګورئ ورلول-

ورلوونکے:(ور-لَه-وُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ورلول-

ورلونګ:(ور-لَه-وُنګ)حاصل مصدر- وګورئ ورلول-

ورلونه:(ور-لَه-وَ-نَه)حاصل مصدر- وګورئ ورلول-

ورله:(ور-لَه)صفت- اميدواره چې پۀ ګېډه يې بچے وي- حامله- شيګاره- بلاربه- جمع ورلې-

ورله:(ور-لَه)حرف عطف- وګورئ ورلره-

ورله انا:(ور-لَه-اَ-نا)اسم- واحد- مؤنث- دَ نيا مور- دَ نيا نيا- جمع ورلې انا-

ورله کېدل:(ور-لَه-کې-دَل)مصدر لازم- بلاربېدل-

ورلېدل:(ور-لې-دَل)مصدر لازم- بلاربېدل- حامله کېدل- بچے په ګېډه کېدل-

www.pukhto.net

ورلېدلې:(ور-لې-دلې)صفت-واحد- مونث- وګورئ ورلېدل-

ورلېدن:(ور-لې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ورلېدل-

ورلېدنګ:(ور-لې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ورلېدل-

ورلېدنه:(ور-لې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ ورلېدل-

ورلېدونکې:(ور-لې-دون-کې)اسم فاعل- وګورئ ورلېدل-

ورلېده:(ور-لې-ده)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ ورلېدل-

ورم:(ورم)اسم- واحد- مذکر- د ممسري يا زخم په وجه د بدن پړسېدنه- پاړسوب- جمع ورمونه-

ورم:(ورم)اسم- واحد- مذکر- صلاح مشوره- لعسون- وعظ- نصيحت- پند- نصيحت- جمع ورمونه-

ورماکه:(ور-ما-که)اسم- واحد- مذکر- د ماشومانو يوه بيماري چې د معې په وجه پرې په خله داني راوخيژي-

ورمن:(ور-من-دن)اسم- واحد- مذکر- نصيحت-

ورمولې:(ور-مو-لې)اسم- واحد- مذکر- د ماشومانو يوه بيماري چې د معې په وجه ئې دستونه کيږي- وګورئ أرموئے جمع ورمولې-

ورمېږ:(ور-مېږ)اسم- واحد- مذکر- غټ- مږې- غاړه- جمع ورمږونه-

ورمېے:(ور-مېے)اسم- واحد- مذکر- ورومبے- اولے-

ورند:(ور-ند)اسم صفت- (۱)وربدونکے- (۲)اخوږندې انه-

ورندار:(ور-ندار)اسم- واحد- مونث- ورندار د وړور ... جمع ورنداري ورنداريانې-

ورنداره:(ور-دا-ره)اسم- واحد- مونث- وګورئ ورندار-

ورندې:(ور-ندې)اسم صفت- ورندونکے- مسلسل وربدونکے-

ورنېه:(ور-نه)اسم- واحد- مونث- کنه کوبه- عوبسه- باخلي حمد-

ورنه:(ور-نه)حرف جار- ورځنې- له دغه لۀ دغې خبرې- د ... غائسانه ... د ... حرف جار نه جوړ سوے توروے-

ورنيکه:(ور-نې-که)اسم- واحد- مذکر- د نيکۀ پلار- د نيکه نيکۀ- غور نيکۀ- جمع ورنيکونه-

ورئ:(وري)اسم- واحد- مذکر- تابوت- جنازه-

وريې:(ور-يې)اسم- واحد- مذکر- هغه کېږه چې يکښې واړه ماشومان تړلے شي- اوبے- جمع وريې-

ورو:(ورو)اسم صفت متعلق فعل- په قلار- په ارام- په مزه- د تيز يا زر ضد-

وروحه:(وروحه)اسم- واحد- مونث- د غوز بيزو سپوږه کته-

ورروخه:(ورو-خه)اسم- واحد- مونث- د ستړکو نه پلس د ويښتو نری کرښه- جمع ... ورخې-

وروځې:(ورو-ځې)اسم- جمع- مونث- وروځې- د وروځه جمع-

ورو... اسم- واحد- مذکر- ... د خلېدنه- راتلنه- راوسېدنه- نشرېدنه- ... ورته- خوربدنه-

وروړ:(وروړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)يو داسې کس چې مل سړی يا ښځې سره د يو مور پلار نه يا د يوې مور نه د پيدا کېدو تعلق لري- په ورومبي حالت کښې سکه وروړ او په دويم کښې ماسکه وروړ بللے شي- (۲)اختي وحت کښې د نوم په ځائې زنطې کيږي- (۳)ملګرے دوست- رشته دار-

ورور:(ور-ور)اسم- واحد- مذکر- د خاوند لۀ خوا ماري ته ورکړے کېدونکے رتبه- ښور-

وروړ عزيز:(وروړ-عزيز)اسم- واحد- مذکر- حس حيوان- خپل پردي- يار اشنا- جمع وروڼه عزيزان-

وروړکے:(ورو-ړکے)اسم تصغير- وروکے ماشوم- د وروړ اسم تصغير-

وروړګلوي:(وروړ-ګل-وي)اسم- واحد- مؤنث- وروړولي- دوستي- راشه درشه-

وروړګلي:(وروړ-ګلي-ري)اسم- واحد- مونث- پخه دوستي- وروړولي-

وروړولي:(وروړ-ولي)اسم- واحد- مؤنث- وروړګلوي- برادري- دوستي-

وروړي:(ورو-ړي)اسم- واحد- مونث- وروړولي- دوستي-

وروړے:(ورو-ړے)اسم- واحد- مذکر- په غزۀ کښې د ګاروو د پاره د پناه ځاے-

وروړل:(ور-وړل)مصدر متعدي- چا له اوړل- چا ته رسول-

وروړلے:(ور-وړلے)اسم مفعول- وګورئ وروړل-

وروړن:(ور-وړن)حاصل مصدر- وګورئ وروړل-

وروړنګ:(ور-وړنګ)حاصل مصدر- وګورئ وروړل-

وروړنه:(ور-وړنه)حاصل مصدر- وګورئ وروړل-

وروړونکے:(ور-وړون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ وروړل-

ورست:(ورست)اسم صفت- واحد- مذکر- پخواني- وروست- حوړلے سوے- کچه شوے- خراب شوے- جمع وراسته- مؤنث ورسته-

وروستے:(ورو-ستے)اسم صفت- (۱)وروستے- آخري- اخريے- (۲)اسم- واحد- مذکر- ... صفت په اخر کښې راتلونکے علامت-

ورستے:(ور-ستے)اسم صفت- مذکر- ورستارے-

وروستول:(وروس-تول)مصدر متعدي- خرابول- روږل- استعمالول- ورستول-

وروستون:(وروس-تون)حاصل مصدر- وګورئ وروستول-

وروستونکے:(وروس-تون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ وروستول-

وروستونګ:(وروس-تونګ)حاصل مصدر- وګورئ وروستول-

وروستونه:(وروس-تو-نه)حاصل مصدر- وګورئ وروستول-

وروسته:(وروس-ته)اسم صفت متعلق فعل- (۱)وروستو- پس- بيانې- (۲)ورپسې- ...

وروستې مال:(وروس-تې-مال)متعلق فعل- وګورئ وروستينبال-

وروستينبال:(وروس-تين-بال)متعلق فعل- په اخر کښې- آخري کښې-

وروستے:(وروس-تے)اسم صفت- مذکر- شاتنے- آخري-

وروغ:(وروغ)اسم- واحد- مذکر- کارغه- ورغه-

وړ... (و-ړ...)مصدر متعدي- د ماړار د څاڅکو په شان بهول- ګوزارول-

www.pukhto.net

ورولېدل:(ور-ولې-دل)مصدر- څۀ څیز کښې پربوتل- دَ څۀ څیز حقیقت ته رسېدل-

ورولېدلے:(ور-ولې-دَلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ورولېدلي- مؤنث ورولېدلې- وګورئ ورولېدل-

ورولېدن:(ور-ولې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ورولېدل-

ورولېدنګ:(ور-ولې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ورولېدل-

ورولېدنه:(ور-ولې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ ورولېدل-

ورولېدونکے:(ور-ولې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ورولېدل-

ورولېده:(ور-ولې-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ ورولېدل-

ورولے:(و-ر-مو-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ورول-

ورون:(و-رون)اسم- واحد- مذکر- تله- بناټکه- پټون- دَ بنیادم پۀ بدن کښې دَ کناټې او دَ کونډې تر مینځ ځایَ- زنګون- جمع ورونونه-

ورون:(و-ر-مون)حاصل مصدر- وګورئ ورول-

ورونکے:(و-ر-مون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ورول-

ورونګ:(و-ر-مونګ)حاصل مصدر- وګورئ ورول-

ورونه:(و-ر-مو-نه)حاصل مصدر- وګورئ ورول-

وروني:(ور-و-نے)اسم- واحد- مذکر- ورنے- ځېژنې- سېژنې- جمع ورنې-

ورو ورو:(ورو-ورو)اسم صفت- پۀ قلار قلار- پۀ مزه مزه-

ورۀ:(و-رۀ)اسم- واحد- مذکر- دروازه- دَ ور مغیره حالت-

ورسته:(ور-س-ته)متعلق فعل/صفت- لرې- یو خوا ته- وګورئ ورمیسته-

ورغه:(ور-غه)اسم- واحد- مؤنث- کسب- هنر- کار- شغل-

ورمول:(ور-مه-ول)مصدر متعدی- خلاصول- آزادول-

ورمولے:(ور-مه-مو-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ورمول-

ورمون:(ور-مه-ون)حاصل مصدر- وګورئ ورمول-

ورمونکے:(ور-مه-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ورمول-

ورمونګ:(ور-مه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ورمول-

ورمونه:(ور-مه-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ورمول-

ورمیسته:(ور-میس-ته)متعلق فعل/صفت- اخوا ته- دَ لرې- ورسته-

ورمېدل:(ور-مې-دل)مصدر لازم- آزادېدل- خلاصېدل-

ورمېدلے:(ور-مې-دلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ورمېدل-

ورمېدن:(ور-مې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ورمېدل-

ورمېدنګ:(ور-مې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ورمېدل-

ورمېدنه:(ور-مې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ ورمېدل-

ورمېدونکے:(ور-مې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ورمېدل-

ورمېدوے:(ور-مې-دو-ے)اسم فاعل- واحد- مذکر- خلاصېدونکے- آزادېدونکے-

ورمېده:(ور-مې-ده)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ ورمېدل-

وریا:(ور-یا)اسم- واحد- مذکر- باران-

وریا:(ور-یا)اسم- واحد- مؤنث- (۱) حاشیه- (۲)صفت- ډېر لرې- پۀ فاصله-

وریت:(وریت)صفت- (۱)دَ اور پۀ تاؤ پوخ- پۀ انګار پوخ- کباب شوے- (۲)سوزېدلے- (۳)قهر اخستے- غصه شوے-

وریت پیت:(وریت-پیت)صفت- (۱) سخت قهر اخستے- (۲)سختې ګرمۍ وهلے-

وریتول:(ورې-ته-ول)مصدر متعدی- (۱)پۀ اور پخول- نیغې کول- (۲)غصه کول-

وریتون:(ورې-ته-ون)حاصل مصدر- وګورئ وریتول-

وریتونکے:(ورې-ته-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع وریتونکي- مؤنث وریتونکې- وګورئ وریتول-

وریتونګ:(ورې-ته-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ وریتول-

وریتونه:(ورې-ته-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ وریتول-

وریته:(ورې-ته)اسم- واحد- مؤنث- (۱) پۀ اور پخ شوې غوښه- کباب کړې غوښه- پۀ اور پخ شوې تیکه-(۲)دَ وریتو غوښو میلمستیا- (۳)صفت- دَ وریت مؤنث-

وریته ګر:(ورې-ته-ګر)اسم- واحد- مذکر- تیکې خرڅونکے- کباب خرڅوونکے-

وریتې:(ورې-تې)صفت- (۱)ورتې شوې- سوزېدلې- نیغې شوې- (۲)دَ وریتو غوښو میلمستیاګانې- دَ وریته جمع-وګورئ وریته-

وریتېدل:(ورې-تې-دل)مصدر متعدی- (۱) پۀ اور پخېدل- نیغې کېدل- سوزېدل- (۲)غصه کېدل-

وریتېدن:(ورې-تې-دن)حاصل مصدر- وګورئ وریتېدل-

وریتېدنګ:(ورې-تې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ وریتېدل-

وریتېدنه:(ورې-تې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ وریتېدل-

وریتېدونکے:(ورې-تې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ وریتېدل-

وریتېدۀ:(ورې-تې-دۀ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صیغه- وګورئ وریتېدل-

وریځ:(ور-یځ)اسم- واحد- مذکر- پۀ آسمان هغه لړې چې باران ترې ورېږي- اوریځ-

ورید:(و-رید)اسم- واحد- مذکر- دَ څټ څټ رګ- شاه رګ- شه رګ-

وریژه:(ورې-ژه)اسم- واحد- مؤنث- غله- نباتاتي نوم اورېزا سېټيې وا (ORYZA SATIVA) لرونکې بوټی چې دانه يې دَ خوراک دَ پاره استعمالیږي- جمع وریژې-

وریژینه:(ورې-ژې-نه)اسم- واحد- مؤنث- دَ وریژو اوړو نه جوړه روټۍ چې حلوه پکښې ګډ وي-

وریسته وریسته:(ور-یس-ته-ور-یس-ته)صفت متعلق فعل- لرې لرې-

www.pukhto.net

بهر بهر- په ډېره ډډه-

ورین:(ورین)اسم- واحد- مذکر- کشاده- ارت- عام طور سره د تندی د صفت په طور استعمالیږی-

ورینـدار :(ورین-دار)اسم- واحد- مؤنث- ورندار- د ورور ښځه- جمع وریندارياني-

ورینداره:(ورین-دا-ره)اسم- واحد- مؤنث- د ورور ښځه- بابی-

ورینکے:(ورین-کے)اسم- واحد- مذکر- نرے نرے باران-

وریمه:(وَری-مه)اسم- واحد- مؤنث- د ورین- مؤنث روښان غوړېدلے- وګورئ ورین-

وریمے:(و-ری-مے)اسم- واحد- مذکر- خوشحاله- سوکاله-

وریبه:(وری-بِه)متعلق فعل:صفت- لرې- په فاصله-

وریخ:(وریخ)اسم- وګورئ وریځ-

وریت:(وریت)صفت- ګرګند- ښکاره- جوت- (متروک)-

ورېدل:(و-ري-دل)مصدر متعدي- باران کېدل- متواتر څه څيز د پره نه لاندې راپرېوتل- (لکه ږلی- کاڼی او داسې نور)-

ورېدن:(و-ري-دن)حاصل مصدر- وګورئ ورېدل-

ورېدنګ:(و-ري-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ورېدل-

ورېدنه:(و-ري-دنه)حاصل مصدر- وګورئ ورېدل-

ورېدونکے:(و-ري-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ورېدل-

ورېده:(و-ري-ده)حاصل مصدر- وګورئ ورېدل-

ورېرونه:(وری-رو-نه)اسم- د ورارهٔ جمع- د ورور ځامن-

ورېره:(وری-ره)اسم- واحد- مؤنث- د ورور لور- د ورارهٔ مؤنث-

ورېژن:(وري-ژن)اسم صفت- مېده ګېزونه-

ورېښل:(وري-ښل)مصدر متعدي- نغښتل- مکښتل- ورېښول-

ورېښلے:(وري-ښ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ورېښل-

ورېښن:(وري-ښن)حاصل مصدر- وګورئ ورېښل-

ورېښنه:(وري-ښ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ورېښل-

ورېښونکے:(وري-ښون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ورېښل-

ورېښول:(وري-ښه-ول)مصدر متعدي- وګورئ ورېښل-

ورېښون:(وري-ښه-ون)حاصل مصدر- وګورئ ورېښل-

ورېښونکے:(وري-ښه-رون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ورېښل-

ورېښونګ:(وري-ښه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ورېښل-

ورېښونه:(وري-ښه-ونه)حاصل مصدر- وګورئ ورېښل-

ورېښوه:(وري-ښه-وه)حاصل مصدر- وګورئ ورېښل-

ورېښم:(وري-ښم)اسم- واحد- مؤنث- ورېښم يو قيمتی تار چې د يو قسم چينجي نه حاصلوے شی او کپړه تري جوړيږی-

ورېښمين:(ورېښ-مين)صفت- ريښمين- ريښمی- د ورېښمو نه جوړ- مؤنث ورېښمينه-

ورېښه:(وري-ښه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)طوا- (۲)د مرې خېرات چې عموماً د جمعې په شپه کولے شی-

وريغ:(و-ريغ)اسم- واحد- مذکر- رنګ جمع وريغونه-

وړ:(وړ)اسم- صفت- جوګه- اعتبار- قابل- مناسب- موزون-

وړ:(وړ)اسم- واحد- مذکر- زوروړ- په حق- بې ګناه- د پړ ضد-

وړ:(وړ)اسم- واحد- مذکر- جنس- د يو جنس څيزونه-

وړاندېيے:(وړان-دي-يے)اسم صفت- مخکښے- مخکښيے- پخوانيے-

وړاندې:(وړان-دې)اسم صفت:متعلق فعل- مخکښې- وړومبے-

وړانګه:(وړانګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- پلوشه- رڼا-

وړانه:(وړا-نه)اسم- واحد- مؤنث- د وړ کېدوحالت- بې ګناهی-

وړانه پړانه:(وړا-نه-پړا-نه)اسم مرکب- واحد- مؤنث- حق ناحق- ګټه ساتېلات- دروغ رښتيا- نفع نقصان- پړ کېدنه-

وړتوب:(وړ-توب)اسم- واحد- مذکر- موروبت- لياقت- مناسبت-

وړتوب:(وړ-توب)اسم- واحد- مذکر- ګټه- کاميابی- غلبه-

وړغوندے:(وړ-غون-دے)اسم- واحد- مذکر- غړزندے- د ځټ رسی چې حمارږو نه اچولے شی-

وړکيه:(وړ-کي-نه)اسم صفت- مؤنث- کمکيه- وړه-

وړکيه:(وړ-کي-نه)اسم- واحد- مؤنث- وړوکتوب-

وړکی:(وړ-کی)اسم- واحد- مؤنث- وړه جينۍ- وړوکې ماشومه-

وړکے:(وړ-کے)اسم تصغير- ماشوم-

وړل:(وړل)مصدر متعدي- (۱)يو شے له څېل ځايه بل ځاې ته منتقلول- وسول- وچتول- (۲)زغمل- برداشت کول-

وړل راوړل:(وړل-راو-ړل)مصدر- (۱)وګورئ وړل- (۲)چغلی کول-

وړلے:(و-ړلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ وړل-

وړم:(و-ړم)صفت- تېر- د کال صفت-

وړمه:(وړ-مه)صفت- د وړم مؤنث- د ورځ يا د شپې د صفت په طور استعماليږی-

وړمه ورځ:(وړ-مه-ورځ)اسم- واحد- مؤنث- تېرې پسې تېره ورځ-

وړمی:(وړ-می)اسم صفت- مؤنث- لومړی- وړومبی- اولنی-

وړن:(وړن)حاصل مصدر- وګورئ وړل-

وړنګ:(وړنګ)حاصل مصدر- وګورئ وړل-

وړنکی:(وړنګ-کی)اسم صفت- ځليدونکے- رڼا کوونکے-

وړنګه:(وړنګ-ګه)اسم- واحد- مؤنث- وړانګه- پلوشه-

وړنګے:(وړنګ-ګے)صفت- رنګين- د ګڼ ضد- لږ- کم-

وړنه:(وړ-نه)حاصل مصدر- برداشت کونه- د وړل حاصل مصدر-

وړنه راوړنه:(وړ-نه-راو-ړ-نه)حاصل مصدر- د يو بل خبرې وړنه راوړنه- چغلی کونه-

وړوکتوب:(و-ړو-کتوب)اسم- وړوکوالے- وړوکتيا- ماشومتوب-

ګ (ګي-رل)- ی (هي-رم-ول)- ی (پيا-لي)- ې (تن-دي) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۹

www.pukhto.net

وروکتیا:(وَ-رُوکْـتیا)اسم- وګورئ وروکتوب-

وروکوالے:(وَ-رُو-وَا-لے)اسم- وګورئ وروکتوب-

وروکے:(وَ-رُو-کے)اسم تصغیر- د ورږ تصغیر- کمکے- کوچنے- د ستر ضد- د لوی ضد-

وروکے اختر:(وَ-رُو-کے-اَخ-تر)اسم مرکب- واحد- مذکر- د روژې میاشت نه پس د مسلمانانو د خوشحالۍ ورځ- عیدالفطر- د هجری کال لسمه میاشت-

ورول:(وَ-رَ-وَل)مصدر متعدی- (۱)ببده کول- (۲)وېچې کول- وګورئ اورول-

ورومسی:(وَرُوم-مَه-سی)اسم صفت- محکسی- تېره شوې-

ورومبنے:(وَرُوم-بَه-نے)اسم صفت- ورومبے- مخکښنے- تېر شوے-

ورومبی:(وَرُوم-بی)اسم صفت- مخکښنی-

ورومبی خور:(وَرُوم-بی-خور)اسم- واحد- مؤنث- ربیع الثانی- د هجری کال څلورمه میاشت- د بارہ وفات نه پس اسلامی میاشت-

ورومبے:(وَرُوم-بے)اسم صفت- وګورئ ورومبنے-

ورومبے:(وَ-رُو-بے)اسم- د اوږو او اَبو مرکب خوراک-

ورون:(وَ-رَ-ون)حاصل مصدر- وګورئ ورول-

ورونګ:(وَ-رَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ورول-

وروبه:(وَ-رَ-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ ورول-

ورونکے:(وَ-رَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ ورول-

وروښے:(وَ-رَ-وښے)فاعل صفت- اوره کونکے- ببده کونکے-

وروۀ:(وَ-رَ-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ ورول-

وړه:(وَ-ړه)صفت- په قد، عمر یا وزن کښې کمه ماشومه- وړوکې- د ورږ مؤنث-

وړه:(وَ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)فتح- د وړکېدو حالت- (۲)د پېره ضد- د ور مؤنث-

وړه پېره:(وړه-پېره)اسم- واحد- مؤنث- حقه ناحقه- حق نا حق- جمع وړې پېرې-

وړه وړه:(وَ-ړه-وَ-ړه)صفت- کمه کمه- لږه لږه- سپکه سپکه-

وړه وڼے:(وَ-ړه-وڼے)اسم- واحد- مذکر- غوالکے- یو غوټیره ونه-

وریا:(وَر-یا)اسم صفت- (۱)بې قیمته- وېړیا- بې پیسو- (۲)ارزان-

وریکې:(وَ-رِی-کې)اسم- واحد- مؤنث- وړوکې- د وریکے مؤنث-

وریکی:(وَ-رِی-کی)اسم- واحد- مؤنث- وړه ماشومه- وړه لږه-

وریکے:(وَ-رِی-کے)اسم- واحد- مذکر- وړوکے-

ورین:(وَ-رین)صفت- لۀ وړی جوړ شوے-

وریبه:(وَ-رِی-نه)اسم صفت- واحد- مؤنث- د وړی نه جوړه شوې- پشمینه-

ورینے:(وَ-رِی-نے)اسم صفت- لۀ وړی نه جوړ-

وړی:(وَ-رِي)اسم- د وره جمع (۱)د پسو تلېیلے وروکے ککورے- (۲)ببده وریزی-

وریدلے:(وَ-رِي-دَه-لے)اسم صفت- خوشحال-تاند-

وړې وړې:(وَ-رِي-وَ-رِي)اسم- د لویو لویو ضد- کمکې کمکې-

وړی:(وَ-رِي)اسم- مؤنث- د دالو او قیمې نه جوړ غنهارې چې کتهوی کښې اچولے شي-

وړی:(وَ-رِي)اسم- واحد- مؤنث- د ګډو یا اوښانو وېښتۀ او لۀ دغو وېښتو جوړ تاروښه- پشم-

وز:(وز)اسم- واحد- مذکر- چېلے- نر چېلے-

وز:(وز)اسم- واحد- مذکر- کولاچ- (۲)- صفت)مفلس- غریب- محتاج- قلاچ- کلاچ-

وز:(وز)صفت- اَرت- واز-

وزارت:(وِزا-رت)اسم- واحد- مذکر- د وزیر کار- د وزیر عهده-

وزیون:(وز-یون)اسم- واحد- مذکر- د چېلو کنډک- د چېلو رمه-

وزده:(وز-ده)اسم- واحد- مؤنث- وازده- چربی- وازګه-

وزر:(وَ-زر)اسم- واحد- مذکر- (۱)د مرغانو بڼه- وېښتۀ- د مارغانو پرونه- (۲)مټ- (۳)سپک خیز- (۴)د کتاب جلد- ګور- جمع وزرونه-

وزر:(وِ-زر)اسم- واحد- مذکر- تعزیت- غمرازی- د عذر مفقن-

وزرا:(وُزرا)اسم- جمع- مذکر- د وزیر جمع-

وزروال:(وَ-زر-وال)اسم صفت- واحد- مذکر- ځانګور- وزر لرونکے-

وزغن:(وز-غَن-زن)اسم- واحد- مذکر- د چېلی - وېښتو نه جوړ شوے څیز-

وزغونه:(وز-غو-نه)اسم- د چېلو وېښتۀ- وزغمه- وزغونه- وزغونے-

وزغونے:(وز-غو-نے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ وزغونه-

وزګار:(وز-ګار)صفت- بې روزګاره- فارغ- کار نۀ لرونکے- بې کاره- بې کسه-

وزګارتوب:(وز-ګار-توب)اسم- واحد- مذکر- وګورئ وزګارتیا-

وزګارتیا:(وز-ګار-تیا)اسم- واحد- مؤنث- بې کاری- وزګاروالے- فرصت-

وزګارول:(وز-ګار-وَل)مصدر متعدی- وزګارول- بې کاره کول- فارغ کول-

وزګارون:(وز-ګار-ون)حاصل مصدر- وګورئ وزګارول-

وزګارونکے:(وز-ګار-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ وزګارول-

وزګارونګ:(وز-ګار-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ وزګارول-

وزګارونه:(وز-ګار-وَنه)حاصل مصدر- وګورئ وزګارول-

وزګارېدل:(وز-ګا-رې-دل)مصدر لازم- فارغېدل- بې کاره کېدل-

وزګارېدن:(وز-ګا-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ وزګارېدل-

وزګارېدنګ:(وز-ګا-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ وزګارېدل-

وزګارېدنه:(وز-ګا-رې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ وزګارېدل-

وزګارېدونکے:(وز-ګا-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ وزګارېدل-

وزګارېدهٔ:(وز-ګا-رې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ وزګارېدل-

زبر"(ــَــ سره)، "زوروکے"(شل)، "پېښ"(ـُـ کاسره)، "زېر"(کـِـ تاب)، "جزم"(شکون)، "ۀ"(ز ــِـ ره)، "ۀ"(ږو سجي ـ ه)

www.pukhto.net

وزګرے:(وَز-ګَ-رے)اسم- واحد- مذکر- چېلوکے- چېلے- بکرے- څېرلے-

وزله:(وَز-لَه)اسم- واحد- مؤنث- بهانه- چاره- سبب- ذریعه- وسیله-

وزم:(وَ-زَم)اسم- واحد- مذکر- (۱)قصد- اراده- (۲)سُر- ترنګ- تڼګ- وزن- خوش اوازی- طرز- (کاکړ)-

ورمکه:(وَز-مَ-کَه)اسم- واحد- مؤنث- سپروس- وزمکي- ورمکه- جمع وزمکي-

ورمه:(وَز-مَه)لاحقه- وشمه- بوله- ورن- طور- څېر- مثال- په شان- لکه مُلاورمه- مُلاوشمه- ملاپوله وغیره-

وزن:(وَ-زن)اسم- واحد- مذکر- (۱)جاج- تول- اندازه- برابری- توازن- (۲)پړه- دُ کولالانو پژلوه- (۳)عزت- (۴)بوج- بار- (۵)اقتدار- (۶)په علم عروض کښې د شعر بحر-

وزنه:(وَ-زَ-نَه)اسم- واحد- مؤنث- د شیشې یا دُ کاڼي نه جوړ شوے څیز چې عموماً دفترونو کښې په کاغذونو ایښودے شي- پېپرویټ-

وزني:(وَز-ني)اسم صفت- وزن لرونکے- وزن دار- درُوند-

وزنے:(وَز-نے)اسم صفت- مکار- بلاشیشګه- چالاک-

وزه:(وَ-زَه)اسم- واحد- مؤنث- چېلۍ- بیزه- بزه- جمع وزې-

وزیر:(وَ-زِیر)اسم- واحد- مذکر- دُ بادشاه یا حکومت نائب- (۱)وزارت کونکے- نائب- مشیر- (۲)د شطرنج یوه مهره-

وزیره ګټه:(وَ-زي-رَه-ګَ-ټَه)اسم- واحد- مؤنث- دُ لاس دُ منځنۍ او کچنۍ ګټې ترمنځه ګټه-

وزیمه:(وَ-زي-مَه)اسم- واحد- مؤنث- هغه چېلۍ چې وار ئې زاورے وی-

وزی:(وَ-زی)اسم- واحد- مذکر- دِ کتې ګټې نه دُ کچنۍ ګټې پورې فاصله-

وژ:(وژ)اسم- واحد- مذکر- (۱)وز- بیز- چېلے- (۲)مارخور-

وژد:(وژد)اسم- واحد- مذکر- د ځپ وسپتهٔ (د اس وغیره)-

وژغنه:(وژ-غَ-نَه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ وزغونه-

وژغونه:(وژ-غو-نَه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ وزغونه-

وژغونیز:(وژ-غو-نیز)صفت- د ګوړ بزو د وړی نه جوړ شوے کیز-

وژل:(وَ-ژل)مصدر متعدی- قتل کول- مړکول- خون کول- وژنل- قتلول- وژلل-

وژلل:(وژ-لَل)مصدر متعدی- وګورئ وژل-

وژلنه:(وژ-لَ-نَه)حاصل مصدر- وګورئ وژلل-

وژلون:(وژ-لون)اسم- قتل- خون-

وژلونے:(وژ-لو-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- قاتل- خوني- مړکونکے- مرګ کونکے-

وژله:(وژ-لَه)حاصل مصدر- وګورئ وژله-

وژلهٔ:(وژ-لهٔ)حاصل مصدر- قتل- وژنه- مړکونه- وژلون-

وژلے:(وَ-ژَ-لے)صفت مفعول- وګورئ وژل-

وژم:(وَ-ژَم)اسم- واحد- مذکر- د خوشحالۍ لمحه یا د خوشحالۍ حصول- دلچسپي- ږړهٔ راکیبور-

وژمدار:(وَژ-مَ-دار)اسم- واحد- مذکر- پاګل- مضطرب- بدحواس- لېونے- دیوانه-

وژمکی:(وژ-مَ-کی)اسم- واحد- مؤنث- سپروس- وګورئ ورمی-

وژن:(وَ-ژن)اسم- واحد- مؤنث- پټ- پوټکے- څرمن- (دُ ګډې یا چېلۍ اګوړے-

وژن:(وَ-ژن)حاصل مصدر- وګورئ وژل-

وژنګ:(وَ-ژَنګ)حاصل مصدر- وګورئ وژل-

وژنه:(وَ-ژَ-نَه)حاصل مصدر- وګورئ وژل-

وژون:(وَ-ژون)اسم- مذکر- وګورئ وژلون-

وژونکے:(وَ-ژون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ وژل-

وژه:(وَ-ژَه)اسم- واحد- مؤنث- د ځپ پله- جمع وژې-

وږد:(وَ-ږد)صفت- د لنډ ضد- په قد و قامت کښې اوچت- یوه خاصه فاصله لرونکے- راکښلے-

وږدغوږے:(وَ-ږد-غو-ږے)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)کلهرغوږے- غوږونه لوئ غوږے- چې غوږونه ئې لوئ لوئ وی- (۲)خر- درازګوش- جمع وږدغوږي-

وږدوالے:(وَ-ږد-وا-لے)اسم- مذکر- طوالت- دُ یو څیز له یوه سره تر بله سره فاصله-

وږدول:(وَ-ږ-دَ-ول)مصدر متعدی- راکښل- لوېول- طوالت ورکول-

وږدون:(وَ-ږ-دون)حاصل مصدر- وګورئ وږدول-

وږدونکے:(وَ-ږ-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ وږدول-

وږدونه:(وَ-ږ-دو-نَه)حاصل مصدر- وګورئ وږدول-

وږدوهٔ:(وَ-ږ-دوهٔ)حاصل مصدر- وګورئ وږدول-

وږسترګتوب:(وَږ-سترګ-توب)اسم- واحد- مذکر- دُ اوږو سترګو لرنه- حرص- کمینه توب-

وږسترګے:(وَږ-سترګے)صفت- وږې سترګې لرونکے- لالچي- حرصی- حریص-

وږلوږے:(وَږ-لو-ږے)اسم صفت- هغه وږے چې ډېرې په تلوار خوري-

وږم:(وَ-ږم)اسم- واحد- مذکر- سخا بوئ- خراب بوئ-

وږمکی:(وَږ-مَ-کی)اسم- واحد جمع- مؤنث- وږمې- وږمکهٔ سپږمې- وژمکی- وزمکی-

وږمه:(وَ-ږ-مَه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)یخه هوا- نرے باد- (۲)علامه-

وږمی:(وَږ-مي)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ وږمکی-

وږیږه:(وَ-ږي-ږَه)صفت- (۱)هغه ښځه چې دُ اوو میاشتو اُمید ئې وی- (۲)اسم- دُ ګېډې مالش-

وږی:(وَ-ږی)اسم- واحد- مؤنث- په غاړه کښې دُ اچولو یو کالے- اوږی-

وږے:(وَ-ږے)صفت- واحد- مذکر- (۱)لوږه- (۲)مشتاق- شوقی- شوقین-

وړے:(وَ-ړے)اسم- واحد- مذکر- (۱)د غنمو- اربشو جوارو وغیره هغه خوشه

یٔ" (ښي-رِل)، ي"(اصي-ره-ول)، ئ"(پيا-لي)، ے"(تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www pukhto net

چي پکښې داني وي- (۲)د شهدو د موچيو د ګبين هغه حصه چي پکښې شهد وي- د ګبينه پياګه-

وس:(وَس)اسم- واحد- مذکر- (۱)طاقت- کوشش- زور- واک- اختيار- (۲)څيز-

وس:(وس)متعلق فعل- اوس- دا وخت- دا ساعت- په دې وخت- في الحال-

وساطت:(و-سا-طت)اسم- واحد- مذکر- واسطه- ذريعه- وسيله-

وسائل:(وَ-سا-ئل)اسم- مذکر- د وسيله جمع-

وسپرين:(وس-پرين)صفت- د اسپني جوړ-

وسپن شووړے:(وَس-پن-شو-وړے)اسم- واحد- مذکر- د لواړانو يو اوزار- سوان- جمع وسپن شوړي-

وسپنخړے:(وَس-پن-خڅ-ړے)اسم- واحد- مذکر- د اسپني زنګ- د اسپني خيرے چي عام طور سره د زيړي-جولي په مرض کښې د دارو په طور استعماليږي- وګورئ سپنخړے-

وسپنخوره:(وَس-پن-خو-ره)اسم- مؤنث- د وسپني زنګ- مچه خور- مچه خورک- جمع وسپنخوري-

وسپنکښ:(وس-پن-کښ)اسم- واحد- مذکر- آهنګر- لوهار-

وسپنه:(وَس-پۀ-نه)اسم- واحد- مؤنث- په معدني څيزونو کښې لۀ ټولو زيات استعماليدونکے دات چي فولاد ترې جوړيږي- هغه عنصر چي فارموله ئې ايف اي(ا:)او اېټمي شمېر ئې ۲۲ دے- وګورئ اسپنه-

وست:(وست)اسم- واحد- مذکر- څيز- وس-

وسترے:(وست-رے)صفت- وروستو- وروستے- آخري-

وستکار:(وَس-تۀ-کار)اسم- واحد- مذکر- هغه خلق چي د کلي په ټه بده کښې خدمت کوي او خپې پېشو کښې مهارت لري- استکار-

وستګير:(وست-ګير)اسم صفت- وس لرونکے-

وستل:(وَس-تَل)اسم- واحد- مذکر- مقام- ځاے- د غنډي ځاے-

وستناک:(وَست-ناک)اسم صفت- خوشحاله- خوش طبع- چي خفه نۀ وي-

وسته:(وس-ته)اسم- واحد- مؤنث- ډنډ- د اُبو تالاؤ-

وستيانے:(وَست-يا-نے)اسم- واحد- مذکر- ختميدونکے- آخري-

وسط:(وسط)اسم- واحد- مذکر- مينځ- مرکز-

وسطي:(وس-طي)صفت- مينځنے- مرکزي-

وسعت:(وَس-عت)اسم- واحد- مذکر- ارتوالے- پلنوالے- لويوالے-

وسکه:(وَس-که)حرف ربط- ځکه نو- ځکه چي- ولې چي- بې شکه- خو- مګر-

وسکي:(وَس-کي)حرف ربط- وګورئ وسکه-

وسله:(وس-له)اسم- واحد- مؤنث- اسلحه- د جنګ جګړې اوزار- ټوپک- تماچه- چاړه- غرض هر هغه شے چي جنګ جګړه کښې بکار راوستے شي-

وسله وال:(وس-له-وال)اسم صفت- وسله لرونکے-

وسلېدل:(وس-لې-دل)مصدر متعدي- ماتېدل- شلېدل-

وسلېدن:(وس-لې-دن)حاصل مصدر- وګورئ وسلېدل-

وسلېدنګ:(وَس-لې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ وسلېدل-

وسلېدنه:(وَس-لې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ وسلېدل-

وسلېدونکے:(وَس-لې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ وسلېدل-

وسلېدۀ:(وَس-لې-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ وسلېدل-

وسمن:(وَس-من)اسم صفت- قادر- توانا- زوررور- اختيارمن-

وسمه:(وَس-مه)اسم- واحد- موئث- د نيل پاڼي چي وېښتۀ پرې تورلے شي- خضاب-

وسواس:(وَس-واس)اسم- واحد- مذکر- وهم- فکر- وسوسه- ويره- خطره- شک- ګمان- ګومان-

وسواسي:(وَس-وا-سي)اسم صفت- وهمي- شکي- فکري- وسوسه لرونکے- خامخا ګومان کونکے-

وسوسه:(وَس-وَ-سه)اسم- واحد- مؤنث- خيال- شک- وهم- ګومان-

وسه:(وَ-سه)اسم- واحد- مؤنث- ماران-

وسه:(وَ-سه)اسم- واحد- مؤنث- توان- طاقت-

وسه:(وَ-سه)اسم- واحد- مؤنث- اوانه- د کوټې د چت د پاسه اچولې شوي لرګي-

وسياک:(وَس-ياک)اسم- واحد- مذکر- د وساک مياشت- د هندي شمسي کال دروېمې مياشت چي ۱۵ اپريل، ۱۴ مئي سره مطابق وي-

وسيع:(وَ-سيع)اسم صفت- ارت- فراخ- پلن-

وسيله:(وَ-سي-له)اسم- واحد- مؤنث- سوب- ذريعه- سبب- اسره- طفيل- ضمانت- رسوخ- جمع وسائل-

وسيله دار:(وَ-سي-له-دار)اسم صفت- وسيله لرونکے-

وسيله ناک:(وَ-سي-له-ناک)اسم صفت- وسيله دار- طمع دار-

وسيم:(وَ-سيم)اسم صفت- ښکلے- ښائسته- ړولے-

وسي:(وَ-سي)اسم- واحد جمع- مؤنث- اوسي- د يزي د خاندان يو ځنګلي ځناور- شاعري کښې د ښکليو سترګو د پاره مشهور دے-

وش:(وش)اسم- واحد- مذکر- (۱)وده- ترقي- (۲)زمر- (۳- حرف) د مرد او عم ښکاره کولو حرف-

وشمار:(وشَ-مار)صفت- (۱)تحريک پيدا کونکے- بيدارونکے- (۲)توقمار- وشتي کونکے-

وشتول:(وش-تۀ-ول)مصدر متعدي- راپاڅل- بيداړول- تحريک ورکول-

وشتون:(وش-تۀ-ون)حاصل مصدر- وګورئ وشتول-

وشتونګ:(وش-تۀ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ وشتول-

وشتونکے:(وش-تۀ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ وشتول-

وشتونه:(وش-تۀ-وَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ وشتول-

وشته:(وش-ته)اسم- واحد- مؤنث- ټوقه- مسخره- مزاح- جمع وشتې-

وشتي:(وش-تي)اسم صفت- ټوقي- ټوقمار- وشتمار- ملنډي- مسخراچي-

زمر (ج-منه-ره) وورکے (شل) - تهيش (مو-کا-ره) زمر (د-مياب) - جرم (شکوپ) ه (ر-ړه) ة (پو-سي-دة)

www.pukhto.net

وشم:(و-شِم)لاحقه- طور- څنګه چې- لکه- په شان-

وشن:(وُ-شَن)صفت- بالغ کېدو ته نژدې-

وشه:(وُ-شه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)تانده ځانګه- (۲)شهتیر-

وښ:(وُښ)اسم- مذکر- زهر-

وښبانه:(وښ-با-نه)اسم- واحد- مؤنث- سبزه زار- شینکې- چمن- ورشو-

وښخور:(وښ-خور)اسم صفت- ګیا خوړونکې- واښهٔ خوړونکې-

وښکالے:(وُښ-کا-لے)اسم- واحد- مذکر- دَ انګورو غنچک- د انګورو خوشه- وابنکې- کنګورے- سهلنے- جمع وښکالې-

وښکل:(وښ-کل)مصدر متعدي- وکښل- ایستل- بهر کول- حل کول (سوال)- رابنکل (کرښه)- وباسل- وکاږل-

وښکلے:(وښ-کښ-لے)اسم معمول- جمع وښکلي- مؤنث وښکلې- وګورئ وښکل-

وښکن:(وښ-کَن)حاصل مصدر- وګورئ وښکل-

وښکنه:(وښ-کښ-نه)حاصل مصدر- وګورئ وښکل-

وښکونکے:(وُښ-کُون-کے)اسم فاعل- جمع وښکونکي- مؤنث وښکونکې- وګورئ وښکل-

وښکه:(وُښ-که)اسم- واحد- مؤنث- وښکه- رود- جمع وښکې-

وښکے:(وښ-کے)اسم- واحد- مذکر- (۱)دَ خلې يو طرف- (۲)دَ خلې قبضه- کوم ځاې چې دواړه شونډې يو بل سره يو ځاې کيږي-

وښلن:(وُښ-لن)اسم صفت- واحد- مذکر- په اوښو ککړ-

وښند:(وُ-ښند)اسم صفت- واحد- مذکر- (۱)تاند- ښېرازه- (۲)هغه سړے چې د ملا کورواله نهٔ لري-

وښورے:(و-ښو-رے)اسم صفت- دَ چارپاې بچے چې تازه تازه دَ پيو نه منع شوے وي او په مزه مزه لږ لږ واښهٔ خوري-

وښېدل:(و-ښې-دل)مصدر متعدي- وښې وښې کېدل- کمزورے کېدل-

وښېدن:(و-ښې-دن)حاصل مصدر- وګورئ وښېدل-

وښېدنګ:(وُ-ښې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ وښېدل-

وښېدونکے:(وُ-ښې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګورئ وښېدل-

وښېدنه:(و-ښې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ وښېدل-

وښېدهٔ:(و-ښې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري دَ واحد غائب صيغه- وګورئ وښېدل-

وښے:(وُ-ښے)اسم- واحد- مذکر- کړه- کنګڼ- بنګړے- ګجره- بامو- مټکې-

وصاف:(وص-صاف)اسم- واحد- مذکر- ثناخوان- ډېر صفت کونکے- (م- عربي)-

وصال:(و-صال)اسم- واحد- مذکر- (۱)ملاقات- يو ځاې کېدنه- (۲)مړکېدنه- ختمېدنه- دَ تصوف په اصطلاح کښې په وحدت کښې فنا کېدنه- (م- عربي)-

وصف:(و-صف/وصف)اسم- واحد- مذکر- صفت- ښهٔ والے- ستائينه- تعريف- خوبي- (م- عربي)-

وصفي:(وَ-صَ-في)اسم صفت- واحد- مذکر- تعريفي- صفتي- (م- عربي)-

وصل:(وَ-صل/وصل)اسم- واحد- مذکر- وګورئ وصال- دَ جدايي ضد- (م- عربي)-

وصلت:(وص-لَت)اسم- واحد- مذکر- وګورئ وصال- (م- عربي)-

وصيت:(وَ-صي-يَت)اسم- واحد- مذکر- (۱)نصيحت- (۲)دَ خپل مال جائېداد يا تعلقاتو په باره کښې لهٔ مرګه مخکښې يا په سفر دَ تللو په وخت پرېښودے شوے هدايت چې عمل پرې دَ مرګه پس کولے شي-

وضاحت:(و-ضا-حت)اسم- واحد- مذکر- رڼه خبره کونه- تشريح کونه- تفصيل بيانونه-

وضع:(و-ضع)اسم- واحد- مؤنث- صورت- شکل- حالت-

وضع حمل:(وَ-ضع-حَ-مل)اسم- واحد- مذکر- دَ ماشوم پيدا کېدنه-

وضعدار:(وَ-ضع-دار)صفت- عاجز- عاجز طبع- په يو حالت خوښ-

وضعداري:(وَ-ضع-دا-ري)اسم- واحد- مؤنث- دَ وضعدار کېدو حالت-

وضعيت:(وض-عي-يت)اسم- واحد- مذکر- کېفيت- حالت-

وضو:(وُ-ضو)اسم- واحد- مؤنث- اودس- دَ نمانځهٔ دَ پاره په شريعت کښې مقرر اندامونه وينځنه-

وطن:(و-طن)اسم- واحد- مذکر- علاقه- دَ پيدائش ځاې- مُلک- قوم- دَ يو قوم په ګډه دَ وسېدو ځاې او علاقه-

وطن پال:(وَ-طن-پال)صفت- وګورئ وطن پرست- (افغانستان)-

وطن پالنه:(وَ-طن-پا-لَنه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ وطن پرستي-

وطن پرست:(وَ-طن-پَرست)صفت- وطن سره مينه کونکے- دَ وطن خدمت کونکے- وطن سره پت پالونکے-

وطن پرستي:(وَطن-پَرس-تي)اسم- واحد- مؤنث- دَ وطن پرست کار- دَ وطن پرست نظريه، فکر او عمل-

وطن دار:(وَ-طن-دار)صفت- دَ يو وطن سره تعلق لرونکے- سره يا زيات کسان چې د يو وطن وي-

وطن داري:(وَ-طن-دا-ري)اسم- واحد- مؤنث- وطن سره پت پالنه- دَ وطن خلقو سره مينه لرنه-

وطن دوست:(وَ-طن-دوست)صفت- وطن دوستي کونکے- وطن پرست-

وطن دوستي:(وَ-طن-دوس-تي)اسم- مؤنث- وګورئ وطن پالنه-

وطني:(وَ-طه-ني)صفت- (۱)وطن سره تعلق لرونکے- (۲)دېسي-

وطي:(و-طي)اسم- واحد- مؤنث- غو- جماع- کورواله- اصل معنیٰ دَ پښو لاندې کول-

وظائف:(وَ-ظا-ئف)اسم- جمع- د وظيفې جمع- وګورئ وظيفه-

وظيفه:(وَ-ظي-فه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دَ خداې ذکر- (۲)هغه خوراک چې طالبانو ته ورکولے شي- (۳)منصبي فرض- (۴)سکولونو کالجونو وغېره کښې طالب علم ته ورکېدونکے رقم- دَ يو انجمن يا اداري لهٔ خوا مستحق کسانو ته ورکېدونکے رقم- (م- فارسي)-

ئ- (ځي-رل)، ې- (مې-ره-وَل)، ي- (پيا-لي)، ے- (تن-دے) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

وعده:(وَع-ده)اسم- واحد- مؤنث- عهد- قول- اقرار- لوظ- جمع وعدې- (م- عربي)-

وعده خلاف:(وَع-ده-خِ-لاف)صفت- وعده نه پوره کونکے-

وعده خلافي:(وَع-ده-خِ-لا-في)اسم- واحد- مؤنث- د وعده خلاف عمل او کردار-

وعده وعید:(وَع-ده-و-عيد)اسم مرکب- لوظ قول- قول اقرار- لیت ولعل- ټال متول- انې بانې-

وعظ:(وَ-عظ)اسم- واحد- مذکر- نصیحت- ناصحانه تقریر- جمع وعظونه- (م- عربي)-

وعید:(و-عيد)اسم- واحد- مذکر- د سزا ورکولو وعده- (م- عربي)-

وغژن:(وغ-ژن)صفت- چیچن-

وغه:(و-غه)اسم- د ګېډي چینجے-

وغېره:(وَ-غے-ره)د عربي مرکب ناقص چې پښتو او نورو ژبو کښې د اسم په طور استعمالیږي- او نور- ورسره نور- او لا دي نه سیوا-

وفا:(وَ-فا)اسم- واحد- مؤنث- پت پالنه- د یارانې او دوستۍ وعده پوره کونه- ملګرتیا کونه- سرته رسونه- د ملګرتیا پوره پوره خیال ساتنه- د جفا ضد- (م- عربي)-

وفات:(وَ-فات)اسم- واحد- مذکر- مرګ- مرکېدنه- (م- عربي)-

وفادار:(وَ-فا-دار)اسم صفت- واحد- مذکر- وفا لرونکے- وفا کونکے-

وفاداري:(وَ-فا-دا-ري)اسم- واحد- مؤنث- د وفادار عمل- نمک حلالي-

وفاق:(و-فاق)اسم- واحد- مذکر- (۱)موافقت- اتفاق- اتحاد- یووالے- (۲)د څو صوبو یا ریاستونو مجموعه چې اندروني طور سره جوړ وال لري- (م- عربي)-

وفاقي:(وِ-فا-قي)اسم صفت- واحد- مؤنث/مذکر- د وفاق سره تړلے- (م- عربي)-

وفاکیش:(وَ-فا-کیش)اسم- واحد- مذکر- وفادار-

وفائي:(و-فا-ئي)اسم- واحد- مؤنث- مینه- محبت- (عامیانه)-

وفد:(وَ-فد/وَفد)اسم- واحد- مذکر- جرګه- یو ټولے چې د مطالبې کولو د پاره چا له لاړ شي- جمع وفود- (م- عربي)-

وفق:(وَ-فق)اسم- واحد- مذکر- مطابقت- تړون- (م- عربي)-

وفود:(وُ-فود)اسم- جمع- مذکر- د وفد جمع- جرګې- (م- عربي)-

وفور:(وُ-فور)اسم- جمع- مذکر- زیاتوالے- کثرت- ډېروالے-

وقار:(وَ-قار)اسم- واحد- مذکر- عزت- قدر- سنجیدګي- متانت- شان- شوکت-

وقائع:(وَ-قا-ئع)اسم- جمع- د وقیعه جمع- واقعې- حادثې- واقعات- حمروته- (م- عربي)-

وقایه:(وِ-قا-یه)اسم- واحد- مؤنث- د کتاب جلد- کاڼتې- (م- عربي)-

وقائي:(و-قا-ئي)اسم- جمع- د وقایه جمع-

وقت:(وقت)اسم- واحد- مذکر- وخت- (م- عربي)-

وقتاً فوقتاً:(وَق-تن-فو-ق-تن)متعلق فعل- وخت په وخت- ساعت په ساعت-

وقر:(وقر)اسم- واحد- مذکر- (۱)عظمت- بزرګي- لوئي- (۲)عزت- قدر- (۳)رتبه- منصب- عقل- لوئي- (م- عربي)-

وقس علیٰ هٰذا:(وَ-قِس-عه-لا-ها-ذا)د عربي جمله چې عام طور سره ئې علماء استعمالوي او مطلب ئې دا دے چې په دې قیاس وکړه- علیٰ هذاالقیاس- (م- عربي)-

وقعت:(وق-عت)اسم- واحد- مذکر- عزت- اعتبار- باور-

وقف:(وقف-وَ-قف)اسم صفت- (۱)سپارلے شوے- سپارلے- خیرات شوے- (۲)اسم- واحد- مذکر- د قانون د لاندې یو خیراتي مقصد د پاره مخصوص شوے جائیداد- (۳)په قرآن کریم کښې چې کوم ځائې د وقفې کولو حکم وي- د یو ساکن حرف نه پس دویم ساکن حرف- (م- عربي)-

وقفه:(وق-فه)اسم- واحد- مؤنث- مهلت- لږ ساعت- دمه کونه- م- عربي)-

وقوع:(وُ-قوع)اسم- واحد- مذکر- واقع کېدنه- صادرېدنه- (م- عربي)-

وقوعه:(و-قو-عه)اسم- واحد- مؤنث- واقعه- حادثه- پېښه- صدمه- هنګامه- (م- عربي)-

وقوف:(وُ-قوف)اسم- واحد- مذکر- پېژندنه- شعور- تجربه- علم- پوهه- (۲)د حج په موقع د حاجیانو په عرفات کښې ایسارېدنه- (م- عربي)-

وقیع:(وَ-قیع)صفت- عزتمند- معزز- وقعت لرونکے- (م- عربي)-

وَک:(وَک)اسم- واحد- مذکر- جوړه- طاقت- قبضه- واک- اختیار-

وکاږل:(و-کا-ږل)مصدر متعدي- وباسل- ایستل- وکښل- وېستل-

وکاږلے:(وَ-کا-ږلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع وکاږلي- مؤنث وکاږلې- وګوره: وکاږل-

وکاږنه:(وَ-کا-ږنه)حاصل مصدر- وګوره: وکاږل-

وکاږونکے:(وَ-کا-ږون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- وګوره: وکاږل-

وکالت:(وَ-کا-لت)اسم- واحد- مذکر- (۱) د وکیل پېشه- د وکیل کار- (۲)د افغانستان د شورئ وکښت- (م- عربي)-

وکالتاً:(وَ-کا-لهـ-تن)متعلق فعل- د وکیل په ذریعه-

وکر:(وَکر)اسم- واحد- مذکر- اکر- بڼه- څېره- رنګ- وضع- جُثه-

وکرو:(وکرو)اسم صفت- یواځې- بېل- بې اتفاقه- وکري-

وکرو وکرو:(وکرو-وکرو)صفت- جدا جدا- وکري وکري- بېل بېل- (م- هندي)-

وکري:(وکري)صفت- وګوره: وکرو-

وکري وکري:(وکري-وکري)اسم- وګوره: وکرو وکرو-

وکښل:(وکښل)مصدر متعدي- خارج کول- وباسل- وښکل- وېستل- ایستل-

وکه:(وَکه)اسم- واحد- مؤنث- لوئ ارمان- ډېر خواهش-

وکیل:(وَ-کیل)اسم- واحد- مذکر- (۱)اختیارمن- نائب- واکمن- مختیار- وکالت کونکے- په عدالت کښې د مدعي، مدعاعلیه یا د عدالت له خوا

www.pukhto.net

پېش کېدونکے قانوني ماهر- (۲)دُ افغانستان دُ شورئ رکن-

وکي:(وَ-کي)اسم صفت- واحد- مؤنث- خالي- هغه زمکه چې کرونده پکښې نهٔ کېږي-

وګ:(وګ)اسم- واحد- مؤنث- دَمصنوعي وېښتو ټوپۍ-

وګړے:(وَ-ګهٔ-ړے)اسم- واحد- مذکر- بنده- انسان- سړے- کس- فرد-

خلق- عالم- فرد- جمع وګړي-

ول:(وَل)اسم- واحد- مذکر- پېچ وتاب- تاؤ- کړلېچ- جمع ولونه-

ول:(ول)اسم- واحد- مذکر- (۱)اندازه- هوش- میانه روی- (۲)خبر- خبره-

(۳)حکمت- چل- هنر- (۴)ارزان- ول- سپک- (۵)ګرداب- (۶)قسم- ګوانې-

(۷)تمبه- دروازه- (۸)ګرمه هوا- ګرم باد- (۹)مناسب حال- معامله-

ول:(ول)دُ مصدر علامت- لکه خوړول، غوړول، وغېره-

ولا:(وَ-لا)اسم- واحد- مؤنث- محبت- مینه- دوستي- (م- فارسي)-

ولا:(وَ-لا)اسم- واحد- مؤنث- دُ کلي محل- بنګله-

ولادت:(وِ-لادَت)اسم- واحد- مذکر- پېدائښت- پېدائش- پېدا کېدنه- (م-

عربي)-

ولاړ:(وَ-لاړ)اسم صفت- واحد- مذکر- پاڅېدلے- قائم- ایسار- منتظر- دُ

ناست ضد-

ولاړ:(ولاړ)دُ تلل مصدر نه ماضي مطلق-

ولاړتوب:(وَ-لاړ-توب)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ولاړتیا-

ولاړتیا:(وَ-لاړ-تیا)اسم- واحد- مؤنث- پاڅېدنه- انتظار- ودرېدنه- قایم

کېدنه-

ولاړه:(وَ-لا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- ودرېدنه دُ ناسته ضد- (۲)صفت- دُ

ولاړ مؤنث-

ولاړېدل:(وَ-لا-ړې-دَل)مصدر- چا سره په جنګ ورتلل- پاڅېدل- اوړېدل-

ولاړېدن:(وَ-لا-ړې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ ولاړېدل-

ولاړېدنګ:(وَ-لا-ړې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ ولاړېدل-

ولاړېدنه:(وَ-لا-ړې-دَنه)حاصل مصدر- وګورئ ولاړېدل-

ولاړېدونکے:(وَ-لا-ړې-دُون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ولاړېدونکي-

مؤنث ولاړېدونکې- وګورئ ولاړېدل-

ولاړېدهٔ:(وَ-لا-ړې-دهٔ)حاصل مصدر او دُ ماضي استمراري د واحد غائب

صیغه- وګورئ ولاړېدل-

ولاغوني:(وَ-لا-غو-ني)صفت- میرخمن- دښمن- دشمن-

ولان:(وَ-لان)اسم صفت- عادي- اشنا- عادت- واقف-

ولاند:(وَ-لاند)صفت- مړه شوی- غلښ- هغه سړے چې مړے لمبوي-

ولانګ:(وَ-لانګ-ګ)اسم- واحد- مؤنث- (۱)دُ مړي دُ لمبولو تخته- پټارې-

(۲)لنګر- عرشه- جمع ولانګې-

ولایات:(وِ-لا-یات)اسم- د ولایت جمع- صوبې-

ولایت:(وِ-لا-یت)اسم- واحد- مذکر- (۱)دُ ولي مرتبه- بزرګي- دُ ملک

صوبه- دُ صوبې دُ والي دفتر- (۲)دُ برطانوي حکومت مرکز لندن-

ولایتي:(وِ-لا-یه-تي)صفت- د ولایت وسېدونکے، انګرېزي-

ولته:(ول-ته)متعلق فعل- هلته- دُ هلته یو تلفظ-

ولجه:(وَل-جه)اسم- واحد- مذکر- لوټ- تالان- مال غنیمت-

ولجه:(وَل-جه)اسم- واحد- مؤنث- بهانه- دهوکه- دوکه-

ولچک:(وَل-چک)اسم- واحد- مذکر- هتکړی- جمع ولچکونه-

ولګه:(وَل-ګه)اسم- واحد- مؤنث- مېلمنو ته دُ پروي ورکولو توان- دُ

مېلمستیا کولو نمبر- وار- نوبت-

ولخه:(وَل-خه)اسم- واحد- مؤنث- صحرا- بیابان-

وَلد:(وَ-لَد)اسم- واحد- مذکر- خوې- زوې- م- عربي)-

ولدالحرام:(وَل-دَل-حرام)اسم- واحد- مذکر- حرامي- حرامزاده-

ولړه:(وَلَ-ړه)اسم- واحد- مؤنث- لوږه- دُ زوی کېدو حالت- جمع ولړې-

ولس:(وَ-لس)اسم- جمع- مذکر- اولس- خلق- وګړي- عوام- جمع ولسونه-

ولستي:(وَ-لس-تي)اسم- واحد- مذکر- یو زهریله مار-

ولس دوست:(وَلَس-دوست)صفت- په اولس مین- اولس سره مینه لرونکے-

ولسوال:(وَ-لس-وال)اسم- واحد- مذکر- دُ اولس والي حاکم-

ولسواله:(وَلَس-وا-له)اسم- واحد- مؤنث- دُ اولس حکومت- دُ اولس راج-

(نورے ټکے دُ ری پېلک په معنیٰ کېږي)-

ولس والی:(وَلَس-وا-لي)اسم- واحد- مؤنث- افغانستان کښې یو انتظامي

وحدت- لکه ضلع-

ولسي:(وَلَ-سي)صفت- عوامي- د عوامو-

ولشل:(وَلَ-شل)مصدر متعدي- دُ پېو دُ غاروی نه پئ اخستل- لوشل-

ولشلي:(وَلَ-شلي)اسم مفعول- واحد- مذکر- وګورئ ولشل-

ولشنه:(وَلَ-شَنه)حاصل مصدر- وګورئ ولشل-

ولشونکے:(وَلَ-شون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ولشونکي- مؤنث

ولشونکې- وګورئ ولشل-

ولشونے:(وَلَ-شو-نے)اسم- واحد- مذکر- هغه لوښے چې پئ پکښې ولشلے

شي- لوغي- جمع ولشوني-

ولنه:(وَل-نه)اسم- واحد- مؤنث- کوڅه- تنګ- تلمه-

ولغ:(وَ-لغ)صفت- لغ- لغړ-

ولغه:(وَل-غه)اسم- واحد- مؤنث- دُ صحرا کونتره- ځنګلي کونتره-

ولقه:(وَل-قه)اسم- واحد- مذکر- واک- اختیار- ولکه-

ولک:(وَ-لک)اسم- واحد- مذکر- جاګیردار- ملک-

ولکه:(وَل-که)اسم- واحد- مؤنث- ولقه- (۱)سپارنه- (۲)قبضه- (۳)علاقه-

(۴)پنو- چکله-

ولکي:(وَل-کي)اسم- واحد- مؤنث- دُ ونې جروه- ولکي-

ولګر:(وَل-ګر)اسم- واحد- مذکر- هغه کس چې نرخ مقرروي- نرخ

مقررونکے-

ی- (ځي-ړل)، ي-(ځې-ره-وَل)، ې-(پېیا-لې)، ے-(تن-دے) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

ولکو:(ول-کو)اسم- واحد- مذکر- رېج- کالی- دَ کور سامان-

ولکې:(ول-کې)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ولکې-

ولل:(وَلَل)مصدر- په أبو صفا کول- وينځل- مينځل- پريمينځل-

وللے:(ولَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع وللی- مؤنث وللې- وګورئ ولل-

ولماستنی:(ول-ما-س-تہ-نی)اسم- واحد- مؤنث- کمربند-

ولمستيا:(ول-مَس-تيا)اسم- واحد- مؤنث- مېلمستيا-

ولمورے:(ول-مو-رے)اسم- واحد- مذکر- لورمولے- اورموړلے- ورمولے- د ماشومانو يوه بيماری چې پکښې دست او قے کوی-

ولمه:(ول-مه)اسم- واحد- مذکر- د مېلمه يو تلفظ- مېلمه-

ولمه:(ول-مه)اسم- واحد- مؤنث- دَ پېزار اندرونی تلے- دَ تلی مېنځ کښې ځاى-

ولن:(وَلَن)حاصل مصدر- وګورئ ولل-

ولنګ:(و-لنګ)اسم- واحد- مذکر- (۱)انار- (۲)برخه- پوک- ونډه- حصه-

ولنګ:(وَلنګ)حاصل مصدر- وګورئ ولل-

ولنه:(ولَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ولل-

ولور:(ول-ور)اسم- واحد- مذکر- وورو- د صخراتې لهٔ خوا ناوې ته مقرر شوی پېسې- رقم-

ولول:(ول-ول)اسم صفت- الوول- کنهه کنهه- ولونه ولونه- ګنجې ګنجې- ګلګوتی- کَنهه کنهه وينښه- پېچ درپېچ-

ولوله:(ول-و-له)اسم- واحد- مؤنث- جوش- جذبه- جمع ولولې-

ولونے:(و-لو-نے)اسم- واحد- مذکر- پېزوان- دَ پوزې يو پسول- جمع ولوني-

ولونے:(ولَو-نے)اسم صفت- واحد- مذکر- غاسل- وينځونکے- غسل ورکونکے-

وله:(ولَه)حاصل مصدر- ولنه- وينځنه- وګورئ ولل-

وله:(و-له)اسم- واحد- مذکر- وِلَّه- هغه لښتے چې دَ نهر نه پکښې دَ يو دَ پاره دَ أبه خور أبه رابېلې کړے شوي وي- ويالهٔ-

وله:(وَ-له)اسم- واحد- مؤنث- جنګ بندی- (کول/کېدل مصدرونه)-

وله:(و-له)اسم- واحد- مؤنث- جړه- ببخ- جمع ولې- علم طور سره دَ جمع په صورت کښې استعمالېږی-

وله:(و-له)حرف ربط- ورله- ورسره-

وله:(و-له)اسم- واحد- مونث- خروله- د سپلمکس SMLC د خاندان يوه ونه چې ښاخکې ئې ډېرې لچکدارې وی-

وله تير:(و-له-تير)اسم صفت- لمبر چمبر- په غوېمو لهٔ يو بلله تېر- ورتېر-

ولی:(و-لي)اسم صفت- واحد- مذکر- نېک- بزرګ- دوست- دَ الله تعالی دوست- رسېدلے- جمع وليان-

ولی:(و-لي)د نسبت کلمه چې د اسم نه پس لګی- لکه ورورولی- عزيز ولی وغيره-

وليبهو:(و-لي-بها-ځه)اسم- واحد- مؤنث- دَ ولو په غاړه کېدونکې يوه ګیاه-

ولی عهد:(و-لي-عهد)اسم- واحد- مذکر- دَ بادشاه ځوئ چې دَ هغهٔ لهٔ مرګه پس دَ تخت حقدار وی- (م- عربی)-

وليمه:(و-لی-مه)اسم- واحد- مؤنث- دَ واده مسنونه خوړه- جمع وليمې- (م- عربی)-

ولې:(و-لې)کلمهٔ استفهام- د څهٔ د پاره- په څهٔ غرض-

ولېدل:(ولې-دل)مصدر لازم- لونبېدل- غرځېدل- پرېوتل- ګوزارېدل-

ولېدن:(ولې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ولېدل-

ولېدنګ:(ولې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ولېدل-

ولېدنه:(ولې-دنه)حاصل مصدر- وګورئ ولېدل-

ولېدونکے:(ولې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ولېدونکی- مؤنث ولېدونکې- وګورئ ولېدل-

ولېدهٔ:(ولې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضی استمراری دَ واحد غائب صيغه- وګورئ ولېدل-

ولېومده:(ولي-ون-ده)اسم- واحد- مؤنث- د غوږ او تندی تر مېنځه نرم ځاى- تندرکے- ټټه- لوبرنده- رونګه- اجل ځاى- ږبونکے-

ولېشت:(ولېشت)اسم- واحد- مذکر- دَ پېنځو ګوتو خورو ګټو فاصله- لوېشت- لشت-

ولېشتکے:(ولېش-ته-کے)اسم صفت- پست قده- لوېشتينک- لېشتينک- د وړوکی قد لړونکے- جمع ولشتکی-

ولېشتينک:(ولېش-تی-نک)صفت- وګورئ ولېشتکے-

ولېشه:(ولي-شه)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم دَ لرګی ځلور ګتيزه اله چې دَ کډو بزو وړو پېړی غنداړے کولے شی- جمع ولېشې-

ولې:(و-لي)اسم- واحد- مؤنث- دَ غزنی دَ الوبخارې په شان يوه ترشه مېوه- ولے- هغه الوبخارا چې وچولے شی-

ولی:(و-لي)اسم- واحد- مؤنث- جړه- جروه- بنسټ-

ولے:(و-لے)اسم- واحد- مذکر- دَ الوبخارې په شان يوه ترووه مېوه- ولی- نباتاتی نوم دَ پاره وګورئ الوبخاره-

ولے:(و-لے)اسم- واحد- مذکر- اوږه- وږه- دَ مټ او څټ تر مېنځه حصه- جمع ولی-

وم:(وم)دَ فعل ناقص دَ واحد متکلم دَ ماضی مطو کښې استعمالېدونکې لاحقه-

ومارګه:(و-مار-ګه)اسم- واحد- مؤنث- بغوتی- مرداره دانه- جمع ومارګې-

ومان:(و-مان)اسم- واحد- مذکر- يوه ګياه چې دَ کچه څرمنې دَ پخولو دَ پاره بکارولے شی-

ومه:(و-مه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وګورئ ومان-

ونازه:(و-نا-زه)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم وابنهٔ چې په غرهٔ کښې کيږی-

ونج:(ونج)اسم- واحد- مذکر- (۱)بدل- عوض- لېن دېن- کاروبار- تجارت- سوداګری- (۲)نقص-

زبر:(ج-مه-ره) زورکے:(شل) پېښ:(مو-کيا-ره)، زېر:(ک-ساب)، جزم:(شکوې) ...:(ر-يږه) ...:(پو-سې-ده)

www.pukhto.net

ونجړے:(ون-جڼ-ړے)اسم- واحد- مذکر- وروکے مېز- جمع ونجړی-
ونجوری:(ون-جو-ری)اسم- واحد- مؤنث- بنجاری- دُ بنجاری مؤنث-
ونجول:(ون-جه-ول)مصدر متعدی- بدلول- عوض ورکول-
ونجولے:(ون-جه-وځلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ونجولی- مؤنث
ونجولې- وګورئ ونجول-
ونجون:(ون-جه-ون)حاصل مصدر- وګورئ ونجول-
ونجونکے:(ون-جه-ورن-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ونجونکی- مؤنث
ونجونکې- وګورئ ونجول-
ونجونګ:(ون-جه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ونجول-
ونجونه:(ون-جه-وځنه)حاصل مصدر- وګورئ ونجول-
ونجوۀ:(ون-جه-وۀ)حاصل مصدر- وګورئ ونجول-
ونجېدل:(ون-جې-دل)مصدر لازم- بدلېدل-
ونجېدلے:(ون-جې-دځلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ونجېدلی- مؤنث
ونجېدلې- وګورئ ونجېدل-
ونجېدن:(ون-جې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ونجېدل-
ونجېدنګ:(ون-جې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ونجېدل-
ونجېدونکے:(ون-جې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ونجېدونکی-
مؤنث ونجېدونکې- وګورئ ونجېدل-
ونجېدنه:(ون-جې-دځنه)حاصل مصدر- وګورئ ونجېدل-
ونجېدۀ:(ون-جې-دۀ)حاصل مصدر او دُ ماضی استمراری دُ واحد غائب صیغه-
وګورئ ونجېدل-
وند:(وند)اسم- واحد- مذکر- سېند کښې وطے دېوال- بند- خنډ-
وند:(وند)اسم- واحد- مذکر- حصه- برخه- بخره-
وند:(وند)اسم- واحد- مذکر- زره خرکه- زره خرقه- زره ګوډړی- جمع
وندونه-
وند خور:(وند-خور)اسم صفت- زړوکی خور خناور-
وندر:(ون-در)اسم- واحد- مذکر- (۱)دُ خناورو دُ مری پړے- (۲)هغه لوئ
دام چې کبان پرې نیولے شی-
وندل:(ون-دل)مصدر متعدی- کنڅل کول-
وندلے:(ون-دځلے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ وندنے-
وندلے:(ون-دځلے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع وندلی- مؤنث وندلې-
وګورئ وندل-
وندن:(ون-دن)حاصل مصدر- وګورئ وندل-
وندن:(ون-دن)صفت- (۱)ودان ښاروے- بچے لرونکے ښاروے- (۲)ټول په
ټول-
وندونکے:(ون-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع وندونکی- مؤنث
وندونکې- وګورئ وندل-
وندنګ:(ون-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ وندل-

وندنے:(ون-دځنے)اسم- واحد- مذکر- دُ شنې ګیا، غلې یا وچې پتړی جوړ
کړے شوے پړے چې ګېډے پرې تړلے شی- وندلے- و نئے- جمع وندنی-
وندوند:(وند-وند)صفت- برخه برخه- حصه حصه-
وندۀ:(ون-دۀ)حاصل مصدر- وګورئ وندل-
وندیار:(وند-یار)اسم- واحد- مؤنث- وړندار- بابی- دُ وړور ښځه-
وڼډ:(وڼډ)اسم- واحد- مذکر- دُ کرلې شوې زمکې یوه برخه- (۲)دُ سپایانو
ټولے- (۳)حصه- برخه- جمع وڼډونه-
وڼډوالا:(وڼډ-وا-لا)اسم- واحد- مذکر- دُ وڼډ مالک-
وڼډوڼډ:(وڼډ-وڼډ)صفت- وند وند- پارچه پارچه- ټوکره ټوکره- حصه حصه-
برخه برخه-
وڼډوری:(وڼډ-ره-وی)اسم- واحد- مذکر- قصاب- وڼډیکے-
وڼډه:(ون-ډه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)حصه- بخره- (۲)دُ پیو لوښلو دُ پاره
لګې شه ورکېدونکے خوراک- دُ ښاروی حصه-
وڼډیکی:(ون-ډي-کی)اسم- واحد- مذکر- قصابی-
وڼډی مار:(ون-ډي-مار)اسم صفت- ټوکرې ټوکرې کونکے- تقسیم کونکے-
وڼډی کونکی-
وڼډی:(ون-ډی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)برخه- ټوکره- حصه- وېش- (۲)هغه
کو چې په شریکه واخستلے شی او غوښه ئې اخستونکیو کښې تقسیم کړے
شی-
وڼډی وڼډی:(ون-ډی-ون-ډی)صفت- ټوکره ټوکره- وڼډ وڼډ- ټیکه ټیکه-
بخره بخره- برخه برخه-
وڼړے:(ون-ړے)اسم- واحد- مذکر- دُ نڑی یو قرات- پرنجیے- انترڅے-
نوے- اینګے-
ونکه:(ون-که)اسم- واحد- مؤنث- دُ پلنو پاڼو یوه سبزی چې پخه او کچه
دواړه خوړے شی- لیبنی- رواش-
ونکے:(ون-کے)اسم- واحد- مذکر- په عمر یو هومره- دُ یو عمر- همځولے-
ونګ:(ونګ)اسم صوت- اواز-
ونګره:(ونګ-ره)اسم- واحد- مؤنث- تلاؤ- ډنډ- تالاب-
ونګ ونګ:(ونګ-ونګ)اسم صوت- دُ ماشومانو دُ ژړا اواز- وګورئ ونګه ونګه-
ونګه:(ونګ-که)اسم- واحد- مؤنث- صورت- شکل-
ونګه ونګه:(ونګ-که-ونګ-که)اسم صوت- دُ ژړا اواز- ونګ ونګ-
ونګی:(ونګ-کی)اسم- واحد- مؤنث- (۱)سپوږمی- وږمکه- (۲)ووړکې ونه-
ونه:(ونه/وڼه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)درخت- درخته- یو لوئ بوټے چې
غټه لرګی لرونکې تنه لری- (۲)قد- جمع ونې-
ونه:(و-نه)اسم- واحد- مؤنث- دُ قسم کلمه-
ونه:(و-نه)دُ جمع علامت- لکه کورونه- ګلونه- دُ مذکر دُ جمع سره راځی-
ونیله:(و-نی-له)اسم- واحد- مؤنث- واړۀ واړۀ ښاخونه لرونکے دُ زېړ رنګ یو
بوټے- جمع ونیلې-

ی: (ځی-رل) ئ: (ځی-ره-ول)، ګ: (ښیا-لیږ)، ے: (تن-دیږ) تفصیل دُ پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

ونے:(و-نے)اسم- واحد- مذکر- هغه لرګے چې د لاندې غوښه پرې وچول شي-

ون:(ون)اسم- بون- جمع ونونه-

ونا:(و-نا)اسم- واحد- مؤنث- ښکار-

وناخ:(و-ناخ)اسم- واحد- مذکر- د ښکار ځاى-

ونخ:(و-نخ)اسم- واحد- مذکر- بخشش او امداد چې د تلوې سره کال په کال د جېلو خپلوانو له طرفه کېږى-

ونکه:(و-نه-که)اسم- واحد- مؤنث- پشمینه څنډ- جمع ونکي-

ونل:(و-نل)مصدر- وړه کول- مېده کول-

ونيا:(ون-يا)اسم صفت- د دال يو قسم-

ونيوخى:(و-نيو-خى)اسم صفت- د کاريز اُبۀ چې په تالاؤ کښې جمع شي او نيغې زمکې ته ځي-

ونے:(و-نے)اسم- واحد- مذکر- (۱)ښکارى- ښکارځن- (۲)ورنے- جمع وني-

ونے:(و-نے)اسم- واحد- مذکر- منداټو- جمع وني-

وو:(وو)د جمع متکلم او جمع غائب د پاره راتلونکے فعل ناقص- لکه موږ ناست وو- هغوئ ولاړ وو- وغيره- واحد وۀ-

ووبدل:(وو-ب-دل)مصدر متعدى- وودل- اوبدل-

ووبدنه:(وو-ب-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ ووبدل-

ووجن:(وو-جن)اسم صفت- د زومېتوم رنځور چې پښو لاسونو کښې ئې باد زى-

ووبل:(وو-دل)مصدر متعدى- وګورئ ووبدل-

وون:(وو-دن)حاصل مصدر- وګورئ وودل-

وودنے:(وو-د-نے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ ونډنے-

وودۀ:(وو-دۀ)صفت- خوبولے- ويدۀ- اُودۀ-

وودل:(وو-دل)مصدر- (۱)مرتب کول- ترتيب ورکول- (۲)وبدل- اوبدل- ووبدل-

وورموز:(وور-موز)اسم- واحد- مذکر- مشاده- مخ- اربوز- اوربوز-

ووروۀ:(وور-وۀ)اسم- جمع- وګورئ واروۀ- اوروۀ-

وورنے:(وور-نے)اسم- واحد- مذکر- د ماشومانو د تيرلو کپړه- ورنے- ورنے- اورنے- جمع وورني-

وورول:(وو-ر-ول)مصدر- ورول- باران کول-

ووره:(وو-ره)اسم- واحد- مؤنث- (۱)پوله- د سترګو ګل- (۲)وريځ-

ووريا:(وور-يا)اسم- واحد- مذکر- باران-

ووريا:(وور-يا)متعلق فعل- (۱)موري- طلته- (۲- صفت)لري-

ووربدل:(وو-ري-دل)مصدر- وربدل- باران کېدل-

ووربدنه:(وو-ري-د-نه)حاصل مصدر- وروربدل-

ووری:(وو-ری)اسم- جمع- مؤنث- د غانونو تر مينځه غوښه- د غوکونو نه چاپېره غوښه- وګورئ اورى-

ووړ:(ووړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)باران- (۲)وربدنه- (۳)ووړکے- کوچنے- کمکے- وړکوټے-

ووړکے:(ووړ-کے)اسم صفت- وګورئ ووړ-

ووړکنے:(ووړ-ک-نے)اسم- واحد- مذکر- د وړې پېداوار- جمع ووړکني-

ووړنے:(ووړ-نے)صفت- (۱)د ګرمۍ د موسم- اوړنے- جمع ووړني-

ووړول:(وو-ړ-ول)مصدر متعدى- مېده کول- وړول- وړۀ کول- اوړۀ کول-

ووړونکے:(وو-ړ-ون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ووړونکي- مؤنث ووړونکې- وګورئ ووړول-

ووړونه:(وو-ړ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ ووړول-

ووړۀ:(وو-ړۀ)اسم جمع- وګورئ اوړۀ-

ووړے:(وو-ړے)اسم- واحد- مذکر- د ګرمۍ موسم-

ووړېدل:(وو-ړي-دل)مصدر لازم- مېده کېدل- وړۀ کېدل-

ووړېدنه:(وو-ړي-د-نه)حاصل مصدر- وګورئ ووړېدل-

ووړېدونکے:(وو-ړي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ووړېدونکي- مؤنث ووړېدونکې- وګورئ ووړېدل-

ووړېدۀ:(وو-ړي-دۀ)حاصل مصدر او د ماضي استمراري د واحد غائب صيغه- وګورئ ووړېدل-

ووزکے:(ووز-کے)اسم- واحد- مذکر- هغه بېټے چې يو سړے ئې وچتولے شي-

ووزه:(وو-زه)اسم- واحد- مؤنث- چېلۍ- بيزه- وزه-

ووزى:(وو-زى)اسم- واحد- مؤنث- لينګاټى- د پښې د تلو هډوکے-

ووږد:(وو-ږد)اسم صفت- اوږد- وږد-

ووږمه:(وو-ږمه)اسم- واحد- مؤنث- وږمې- وژمې- سېږمې- سپوږمۍ-

ووږه:(وو-ږه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ اوږه-

ووښ:(ووښ)اسم- واحد- مذکر- د غولى واښے-

ووکى:(وو-کى)صفت- شاړ- خالى- تش-

وول:(وو-ول)مصدر- هودل- وودل- تاروته په يو بل کښې ګېول-

وول:(وول)اسم- واحد- مذکر- د دروازې د بندلو ارم-

ووليى:(وو-ليى)اسم- واحد- مؤنث- جړې- جړوې- د ونې جړې-

وونه:(وو-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ وول-

وويه:(وو-يه)اسم- واحد- مؤنث- هاه اکى-

ووى:(و-وى)اسم- واحد- مذکر- خبره- وعده- ژمنه- قول- وئے- ژمنه-

وه:(وه)د ماضي بعيد د واحد غائب مؤنث سره استعمالېدونکے فعل ناقص- (۲)د ندا کلمه- (۳)قسم-

وه:(وه)د خوشحالۍ او تعجب کلمه-

وۀ:(وۀ)اسم- هوا- باد- د بادو نارونې-

وها:(و-ها)اسم- واحد- مذکر- يو بوټے چې نرى نرى بې پاڼو ځانګې لرى-

وهاب:(و-هاب)اسم صفت- ډېر بخښونکے- د الله تعالىٰ يو صفتي نوم- (م- عربي)-

زبر (ج-بـ-ره)، ووړکے (شل)، پېښ (مو-کا-ره)، زبر (کـ-تاب)، جزم (شکون)، "ه" (ر-وه)، "ۀ" (دو-سي-دۀ)

www.pukhto.net

وهابي:(وَ-ها-بي)اسم- واحد- مذکر- وابي- دَ شیخ عبدالوهاب د فرقې سره تعلق لرونکے چې ځان ته اهل حدیث یا موحد وائي- جمع وهابیان-

وهار:(وَ-هار)اسم- واحد- مذکر- یونه- زیم- یشم- ګګا-

وهارېدل:(وَ-ها-رې-دَل)مصدر لازم- ګګېدل-

وهارېدن:(وَ-ها-رې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ وهارېدل-

وهارېدنګ:(وَ-ها-رې-دَنګ)حاصل مصدر- وګورئ وهارېدل-

وهارېدنه:(وَ-ها-رې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ وهارېدل-

وهارېدونکے:(وَ-ها-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع وهارېدونکي- مؤنث وهارېدونکې- وګورئ وهارېدل-

وهارېدهٔ:(وَ-ها-رې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ وهارېدل-

وهل:(و-هل)مصدر متعدي- (۱)ټکول- لګول- (۲)قرض راتلل- (۳)شکست ورکول- ماتې ورکول- ګوزار کول- دیکه ورکول- (۴)خوړلے کېدل-

وهلندے:(وَ-لَن-دے)اسم صفت- (۱)ګلګوټې- ګالګوټې- ګلګوټې- (۲)خمدار-

وهله:(وَ-له)اسم- واحد- مؤنث- حمله- یرغل-

وهلے:(وَ-هَ-لے)اسم صفت- جمع وهلي- مؤنث وهلې- وګورئ وهل-

وهم:(وَ-هم)اسم- شک- ګمان- خیال- ګومان-

وهمي:(وَ-مي)اسم صفت- ګومان کونکے- شکي مزاج-

وهن:(وَ-هَن)حاصل مصدر- وګورئ وهل-

وهنده:(وَ-هَن-ده)اسم- واحد- مؤنث- وهونکے-

وهندي:(وَ-هَن-دي)اسم صفت- (۱)مقبول- په زړهٔ پورې- (۲)وهونکے-

وهنګ:(وَ-هَنګ)حاصل مصدر- وګورئ وهل-

وهنه:(وَ-هَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ وهل-

وَهٔ وا:(وَهوا)کلمه- دَ تحسین کلمه- شاباش- پاوګیرنه-

وهونکے:(وَ-هُون-کے)اسم فاعل- جمع وهونکي- مؤنث وهونکې- وګورئ وهل-

وهیر:(وَ-هیر)اسم- ویر- ژړا- واویلا-

وهیرغاړے:(وَ-هیر-غا-ړے)صفت- ویر کونکے-

وهېر:(وَ-هېر)صفت- لهٔ یاده وتے- هېر-

وهېرول:(وَ-هې-رَ-ول)مصدر متعدي- لهٔ یاده وېستل- هېرول-

وهېرون:(وَ-هې-رَ-ون)حاصل مصدر- وګورئ وهېرول-

وهېرونکے:(وَ-هې-رَ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع وهېرونکي- مؤنث وهېرونکې- وګورئ وهېرول-

وهېرونګ:(وَ-هې-رَ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ وهېرول-

وهېرونه:(وَ-هې-رَ-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ وهېرول-

وهېرېدل:(وَ-هې-رې-دَل)مصدر لازم- هېرېدل- لهٔ یاده وتل-

وهېرېدن:(وَ-هې-رې-دَن)حاصل مصدر- وګورئ وهېرېدل-

وهېرېدنه:(وَ-هې-رې-دَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ وهېرېدل-

وهېرېدونکے:(وَ-هې-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع وهېرېدونکي- مؤنث وهېرېدونکې- وګورئ وهېرېدل-

وهېرېدهٔ:(وَ-هې-رې-دهٔ)حاصل مصدر او دَ ماضي استمراري دَ واحد غائب صیغه- وګورئ وهېرېدل-

وئ:(وئ)کلمه- دَ افسوس او تکلیف په وخت لهٔ خلې وتونکې کلمه-

وي:(وي)په ماضي شکیه- ماضي شرطیه کښې استعمالېدونکے حرف ناقص-

وئ پانګه:(وئ-پانګ-که)اسم مرکب- واحد- مؤنث- لغوي ذخیره- دَ لغاتو پنګه-

ویار:(و-یار)اسم- واحد- مذکر- عیب- حسد- غیبت- جمع ویارونه-

ویار:(ویار)اسم- واحد- مذکر- ویر- ماتم- افسوس-

ویاړ:(ویاړ)اسم- واحد- مذکر- (۱)غرور- فخر- کبر- (۲)جونګړه- کوډله- دَ وښو ځائ-

ویاړژن:(ویاړ-ژن)اسم صفت- فخر کونکے-

ویاړل:(ویا-ړل)مصدر- غرور کول- فخر کول-

ویاړلے:(ویا-ړَ-لے)اسم مفعول- واحد- مذکر- جمع ویاړلي- مؤنث ویاړلې- وګورئ ویاړل-

ویاړن:(ویا-ړَن)حاصل مصدر- وګورئ ویاړل-

ویاړنګ:(ویا-ړَنګ)حاصل مصدر- وګورئ ویاړل-

ویاړنه:(ویا-ړَ-نه)حاصل مصدر- وګورئ ویاړل-

ویاړو:(ویا-ړو)اسم صفت- فخر کونکے- سرفراز-

ویاړونکے:(ویا-ړون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ویاړونکي- مؤنث ویاړونکې- وګورئ ویاړل-

ویاړه:(ویا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- فخر- ویاړنه- غرور- جمع ویاړې-

ویاړه:(و-یا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- دائره- حلقه- جمع ویاړې-

ویاست:(ویاست)اسم- واحد- مذکر- پړے- رسۍ- بیاسته-

ویاسته:(ویاس-ته)اسم- واحد- مؤنث- بیاسته- رسۍ-

ویاښته:(ویاښ-ته)اسم- واحد- مؤنث- دَ پیمائش یوه پیمانه چې په وزیرو او دورو کښې استعمالېږي- څرنه ۲۲ انچه (مربع)او څرنه ۲۴ انچه (مربع) وي-

ویال:(و-یال)اسم- واحد- مذکر- خوش مزاجه- خوشحاله- تازه- (۲)ازاده- مؤنث- ویاله- جمع مؤنث ویالې-

ویالتوب:(و-یال-توب)اسم- تازګي- شګفتګي- دَ ویال کېدو حالت-

ویالتیا:(و-یال-تیا)اسم- وګورئ ویالتوب-

ویاله:(ویا-له)اسم- واحد- مؤنث- ترو تازه- جمع ویالې-

ویالهٔ:(ویا-لهٔ)اسم- واحد- مؤنث- وله-

ویاند:(و-یاند)اسم- ویونکے- ګویا- مؤنث ویانده- جمع مؤنث ویاندې-

ویت:(ویت)اسم صفت- پلن- ارت- پرانستے- واز- (۲)کړتو- قړتو- مؤنث ویته جمع مؤنث ویتې-

ویت خلے:(ویت-خ-لے)اسم صفت- (۱)ارته خله لرونکے- (۲)بکواسي- جمع ویت خلي- مؤنث ویت خلې-

ئ" (ځی-رل)، ي"(هې-رو-ول)، ئ"(یبا-لي)، ے"(تن-دے) تفصیل دَ پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

www.pukhto.net

ویټ سترګے :(ویټ-سټر-ګے)اسم صفت- بې حیاء- واز سترګے- جمع ویټ سترګی- مؤنث ویټ سترګې-

ویټ قطار:(ویټ-ق-طار)اسم صفت- وګورئ ویټ قطارے-

ویټ قطارے :(ویټ-قه-طا-رے)صفت- ویټ قطار- کړتو- بکواسی- بېرې حبری کونکے- ویکے- جمع ویټ قطاری-

ویټک:(وی-ټک)اسم صفت- ویټې کونکے- ټوقمار- وشتی-

ویټکے:(وی-ټه-کے)اسم صفت- واحد- مؤنث- وګورئ ویټ قطارے- جمع ویټکی-

ږټې چیټې:(وی-ټې-چې-ټې)اسم صفت- جمع- مؤنث- فضول خبرې- بکواس- چبیات- ویټې چیټې- (م- هندی)-

ویټېدل:(وی-ټې-دل)مصدر لازم- ارټېدل- پلټېدل- وازېدل-

ویټېدن:(وی-ټې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ویټېدل-

ویټېدنګ:(وی-ټې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ویټېدل-

ویټېدنه:(وی-ټې-دښنه)حاصل مصدر- وګورئ ویټېدل-

ویټېدونکے:(وی-ټې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ویټېدونکی- مؤنث ویټېدونکې- وګورئ ویټېدل-

ویټېدهٔ:(وی-ټې-دهٔ)حاصل مصدر او دٔ ماضی استمراری دٔ واحد غائب صیغه- وګورئ ویټېدل-

ویټے:(وی-ټے)اسم صفت- پاګل- بکواسی- بېرې خبرې کونکے-

ویټې چیټې:(وی-ټې-چی-ټې)اسم- فضول خبرې- ویټې چیټې- بکواس- چبیات-

ویجاړ :(وی-جاړ)اسم صفت- ویران- کمبور- کهول- بنجر- وران- مؤنث ویجاړه-

ویجاړتوب:(وی-جاړ-توب)اسم- ویجاړوالے- ویجاړتیاء خرابی- ورانے- ګوډے-

ویجاړتیا:(وی-جاړ-تیا)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ ویجاړتوب-

ویجاړوالے:(وی-جاړ-والے)اسم- وګورئ ویجاړتوب-

ویجاړول:(وی-جا-ړ-ول)مصدر متعدی- ویرانول- بربادول- خرابول-

ویجاړون:(وی-جا-ړ-ون)حاصل مصدر- وګورئ ویجاړول-

ویجاړونکے:(وی-جا-ړ-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ویجاړونکی- مؤنث ویجاړونکې- وګورئ ویجاړول-

ویجاړونګ:(وی-جا-ړ-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ویجاړول-

ویجاړونه:(وی-جا-ړ-وښنه)حاصل مصدر- وګورئ ویجاړول-

ویجاړه:(وی-جا-ړه)اسم- واحد- مؤنث- ویرانه- غیرآباده- جمع ویجاړی-

ویجاړېدل:(وی-جا-ړې-دل)مصدر لازم- سحر کېدل- ویرانېدل-

ویجاړېدن:(وی-جا-ړې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ویجاړېدل-

ویجاړېدنګ:(وی-جا-ړې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ویجاړېدل-

ویجاړېدنه:(وی-جا-ړې-دښنه)حاصل مصدر- وګورئ ویجاړېدل-

ویجاړېدونکے:(وی-جا-ړې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ویجاړېدونکی- مؤنث ویجاړېدونکې- وګورئ ویجاړېدل-

ویجاړېدهٔ:(وی-جا-ړې-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری دٔ واحد غائب صیغه- وګورئ ویجاړېدل-

ویدان:(وی-دان)اسم صفت- د ودان پو تلفظ- ودان- آباد-

ویدانی:(وی-دا-نی)اسم- واحد- مؤنث- دٔ ودانی پو تلفظ- ودانی- آبادی- مالداری- باداری-

ویدول:(وی-د-ول)مصدر متعدی- اودهٔ کول- ګملول-

ویده:(وی-ده)صفت- دٔ ویدهٔ مؤنث-

ویدهٔ:(وی-دهٔ)صفت- اودهٔ-

ویدېدل:(وی-دې-دل)مصدر لازم- اودهٔ کېدل- ګملاستل-

ویر :(ویر)اسم- واحد- مذکر- ژړا فریاد- ژړا انګولا- ماتم- جمع ویرونه-

ویران:(وی-ران)اسم صفت- وران- ویجاړ- برباد- تباه-

ویرانول:(وی-را-نه-ول)مصدر متعدی- ورانول- ویجاړول- بربادول-

ویرانون:(وی-را-نه-ون)حاصل مصدر- وګورئ ویرانول-

ویرانونکے:(وی-را-نه-وون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ویرانونکی- مؤنث ویرانونکې- وګورئ ویرانول-

ویرانونګ:(وی-را-نه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ویرانول-

ویرانونه:(وی-را-نه-وښنه)حاصل مصدر- وګورئ ویرانول-

ویرانه:(وی-را-نه)اسم- واحد- مؤنث- بربادہ- ویجاړه- دشته- جمع ویرانې-

ویرانېدل:(وی-را-نې-دل)مصدر لازم- ویجاړېدل- بربادېدل- ورانېدل-

ویرانېدن:(وی-را-نې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ویرانېدل-

ویرانېدنګ:(وی-را-نې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ویرانېدل-

ویرانېدنه:(وی-را-نې-دښنه)حاصل مصدر- وګورئ ویرانېدل-

ویرانېدونکے:(وی-را-نې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ویرانېدونکی- مؤنث ویرانېدونکې- وګورئ ویرانېدل-

ویرانېدهٔ:(وی-را-نې-دهٔ)حاصل مصدر او دٔ ماضی استمراری دٔ واحد غائب صیغه- وګورئ ویرانېدل-

ویرانے:(ویه-را-نے)اسم- واحد- مذکر- د هاتی داړه- جمع ویرانی-

ویرپاټ:(ویر-پاټ)اسم- واحد- مذکر- ژړا انګولا- هایٔ هایٔ- ساندې- وګورئ ویرپیټ-

ویرپیټ:(ویر-پیټ)اسم مرکب- واحد- مذکر- ژړا انګولا- سینه دربی- پهٔ ژړا کښې د مخ، سر او سینې ټرزونه او وهه ټکونه-

ویرټنګ:(ویر-ټنګ)اسم- پهٔ زور سره دٔ مچوغنې پربښودنه-

ویرژن :(ویر-ژن)اسم صفت- ویر کونکے-

ویرژړلے :(ویر-ژه-ړلے)اسم صفت- ماتم کونکے- نوحه ګر- دٔ ځان پهٔ ویر- ویرلړلے- ویرګډے- ویرغاړے- جمع ویرژړلی-

ویرغاړے:(ویر-غا-ړے)اسم صفت- وګورئ ویرژړلے- جمع ویرغاړی-

ویرول:(ویـه-رمـول)مصدر متعدی- په زړه کښې اندېښنه پیدا کول- خطره پیدا کول- ډارول- بوږنول-

ویرون:(ویـه-رمـون)حاصل مصدر- وګورئ ویرول-

ویرونکے:(ویـه-رمـوون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ویرونکی- مؤنث ویرونکې- وګورئ ویرول-

ویرونګ:(ویـه-رمـونګ)حاصل مصدر- وګورئ ویرول-

ویرونه:(ویـه-رمـوڼـنه)حاصل مصدر- وګورئ ویرول-

ویرویرانی:(ویر-وی-رانـی)اسم- ژړا- واوېلا- ماتم-

وېره:(ویـه-ره)اسم- واحد- مؤنث- بوږېدنه- ډار- یره- وېره- خوف-

وېره ژلے:(ویـه-رمـژه-لے)صفت- (۱)وېرې وهلے- وېرېدلے- (۲)وېر کوکے-

وېره وړے:(ویـه-رمـوڼـړے)صفت- وارخطا- وېرېدلے- یرېدلے-

وېرېدل:(ویـه-رې-دل)مصدر لازم- په زړه کښې اندېښنه پیدا کېدل- خطره پیدا کېدل- ډارېدل- بوږنېدل-

وېرېدن:(ویـه-رې-دن)حاصل مصدر- وګورئ وېرېدل-

وېرېدنګ:(ویـه-رې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ وېرېدل-

وېرېدنه:(ویـه-رې-دڼـنه)حاصل مصدر- وګورئ وېرېدل-

وېرېدونکے:(ویـه-رې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع وېرېدونکی- مؤنث وېرېدونکې- وګورئ وېرېدل-

وېرېده:(ویـه-رې-ده)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ وېرېدل-

وېر:(وېر)اسم صفت- خور- ارت بېرت- غوړېدلے-

وېرخلے:(وېر-خـلے)اسم صفت- ویت خلے- جمع وېرخلي-

وېرکے:(وېر-کے)اسم صفت- واحد- مذکر- وروکے- ماشوم- جمع وېرکی-

وېړن:(وی-ړن)اسم- واحد- مذکر- د غنو شپول- کېږ-

وېړول:(وی-ړمـول)مصدر- خوړول- غوړول- ارتول-

وېړون:(وی-ړمـون)حاصل مصدر- وګورئ وېړول-

وېړونکے:(وی-ړمـوون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع وېړونکی- مؤنث وېړونکې- وګورئ وېړول-

وېړونګ:(وی-ړمـونګ)حاصل مصدر- وګورئ وېړول-

وېړونه:(وی-ړمـوڼـنه)حاصل مصدر- وګورئ وېړول-

وېړه:(وی-ړه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)مېره- کټه ګونه- (۲)انګړ- شپول- (۲- صفت)د وېر مؤنث- جمع وېړې-

وېړه المه:(وی-ړمـال-مه)اسم- واحد- مؤنث- د پسرلی سر- د سپرلی پېل- د هوا ماتېدلو وخت-

وېړېدل:(وی-ړې-دل)مصدر لازم- خوړېدل- غوړېدل- پرسېدل-

وېړېدن:(وی-ړې-دن)حاصل مصدر- وګورئ وېړېدل-

وېړېدنګ:(وی-ړې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ وېړېدل-

وېړېدنه:(وی-ړې-دڼـنه)حاصل مصدر- وګورئ وېړېدل-

وېړېدونکے:(وی-ړې-دون-کے)اسم فاعل- جمع وېړېدونکی- مؤنث وېړېدونکې- وګورئ وېړېدل-

وېړېده:(وی-ړې-ده)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ وېړېدل-

ویسا:(وی-سا)اسم- واحد- مذکر- باور- یقین- اعتماد- اعتبار-

ویساک:(وی-ساک)اسم- واحد- مذکر- د هندی کال دوهمې میاشت چې د اپرېل منې سره سمه وی-

وېستارے:(وېس-تا-ړے)اسم صفت- اخری- وروستے-

وېستل:(وېس-تل)مصدر- اېستل- خارجول- بهر کول-

وېستلے:(وېس-تڼـلے)صفت- وګورئ وېستل-

وېستن:(وېس-تن)حاصل مصدر- وګورئ وېستل-

وېستنګ:(وېس-تنګ)حاصل مصدر- وګورئ وېستل-

وېستنه:(وېس-تڼـنه)حاصل مصدر- وګورئ وېستل-

وېستونکے:(وېس-تون-کے)اسم فاعل- وګورئ وېستل-

وېش:(وېش)کلمهٔ تاسف- د دره، افسوس، خوږ، حسرت د اظهار کلمه-

وېشت (وېشت)اسم- شپه وېشتمه- د وېشتل نه اسم-

وېشت:(وېشت)لاحقه- د شلو نه تر اتهٔ وېشتو پورې د هندسو لاحقه- لکه اتهٔ وېشت- یووېشت وغیره-

وېشتل:(وېش-تل)مصدر- ګوزارول- ښکارکول- په ګولۍ یا غشی وژل-

وېشتلے:(وېش-تڼـلے)اسم مفعول- جمع وېشتلی- مؤنث وېشتلې- وګورئ وېشتل-

وېشتن:(وېش-تن)حاصل مصدر- وګورئ وېشتل-

وېشتندے:(وېش-تن-دے)اسم صفت- شېش ناک- وېشتونکے- سهی کر-

وېشتنګ:(وېش-تنګ)حاصل مصدر- وګورئ وېشتل-

وېشتنه:(وېش-تڼـنه)حاصل مصدر- وګورئ وېشتل-

وېشتونکے:(وېش-تون-کے)اسم فاعل- جمع وېشتونکی- مؤنث وېشتونکې- وګورئ وېشتل-

وېشته:(وېش-ته)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ وېشتل-

وېښ:(وېښ)صفت- بیدار- خبردار- د اودهٔ ضد-

وېښتوب (وېښ-توب)اسم- وېښتیا- بیدارتیا- بیداری-

وېښتیا:(وېښ-تیا)اسم- وګورئ وېښتوب-

وېښول:(وی-ښمـول)مصدر متعدی- بیدارول- له خوبه بیدارول- له خوبه پاڅول-

وېښون:(وی-ښمـون)حاصل مصدر- وګورئ وېښول-

وېښونکے:(وی-ښمـوون-کے)اسم فاعل- جمع وېښونکی- مؤنث وېښونکې- وګورئ وېښول-

وېښونګ:(وی-ښمـونګ)حاصل مصدر- وګورئ وېښول-

ی (ځـی ږن) ی (مې-ره-ول) ی (ښیا-لـی) ئی (تی-دیر) تفصیل د پاره وګورئ تشریحات صفحه ۱

ویښونه:(وی-ښه-وڼـه)حاصل مصدر- وګورئ ویښول-

ویښه:(وی-ښه)اسم صفت- واحد- مؤنث- بیداره-

ویښېدل:(وی-ښې-دل)مصدر لازم- له خوبه بیدارېدل- له خوبه پاڅېدل-

ویښېدن:(وی-ښې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ویښېدل-

ویښېدنګ:(وی-ښې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ویښېدل-

ویښېدنه:(وی-ښې-دڼـه)حاصل مصدر- وګورئ ویښېدل-

ویښېدونکے:(وی-ښې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ویښېدونکي- مؤنث ویښېدونکې- وګورئ ویښېدل-

ویښېده:(وی-ښې-ده)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ ویښېدل-

ویل:(ویل)اسم صفت- ورون- تازه- (۲)رران-

ویل:(و-یل)مصدر- ونیل- خبره کول- ګویا کېدل- ګېدل- ګوښېدن-

ویلاړ:(وی-لاړ)اسم صفت- (۱)ولاړ- قائم- (۲- اسم) تصمیم- عزم- اراده- نیت- تېبکېده-

ویلاړل:(وی-لا-ړل)مصدر- (۱)په زړه کښې لرل- مراد نیول- په نیت کښې لرل- (۲)یادېدل- بللے کېدل-

ویلوب:(وی-لوب)اسم- له اتش فشان غره راوتونکي ویلې شوی مواد-

ویلول:(وی-لـه-ول)مصدر- ویلی کول- ټیکه مائع په حرارت یا په بله طریقه اُبه کول-

ویلون:(وی-لـه-ون)حاصل مصدر- وګورئ ویلول-

ویلونکے:(وی-لـه-ون-کے)اسم فاعل- وګورئ ویلول-

ویلونګ:(وی-لـه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ ویلول-

ویلونه:(وی-لـه-وڼـه)حاصل مصدر- وګورئ ویلول-

ویله:(وی-لـه)اسم صفت- ګټه- فائده- نفع- منافع-

ویلې:(وی-لې)اسم صفت- مائع شوے- اُبه شوے-

ویلېدل:(وی-لې-دل)مصدر لازم- مائع کېدل- ټیکه مائع په حرارت یا په بله کیمیائی طریقه اُبه کېدل-

ویلېدن:(وی-لې-دن)حاصل مصدر- وګورئ ویلېدل-

ویلېدنګ:(وی-لې-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ ویلېدل-

ویلېدنه:(وی-لې-دڼـه)حاصل مصدر- وګورئ ویلېدل-

ویلېدونکے:(وی-لې-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع ویلېدونکي- مؤنث ویلېدونکې- وګورئ ویلېدل-

ویلېده:(وی-لې-ده)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ ویلېدل-

وینخکه:(وین-ځه-که)اسم تصغیر- واحد- مؤنث- وینځه- خدمتګاره- نوکره- مردوره- جمع وینځکې-

وینځل:(وین-ځل)مصدر- په اُبو اچه کول- پاکول- صفاکول-

وینځل راوینځل:(وین-ځل-را-وین-ځل)مصدر ترکیبی- د چا صفائی کول-

وینځلے:(وین-ځـه-لے)اسم مفعول- جمع وینځلی- مؤنث وینځلې- وګورئ وینځل-

وینځن:(وین-ځن)حاصل مصدر- وګورئ وینځل-

وینځنه:(وین-ځـه-ڼـه)حاصل مصدر- وګورئ وینځل-

وینځونکے:(وین-ځون-کے)اسم فاعل- وګورئ وینځل-

وینځه:(وین-ځـه)اسم- واحد- مؤنث- د کور نوکره ښځه- د مرئی مؤنث- خدمتګاره- وینځکه- جمع وینځې-

وېند:(و-ېند)اسم- واحد- مذکر- خبرې کونکے- ګویا- ګویانه- ویندے-

ویندل:(و-ین-دل)اسم- خبرې کونکے- ګوینده-

ویندوکے:(و-ین-دو-کے)اسم- واحد- مذکر- ګوینده- خبرې کونکے- جمع ویندوکي-

ویندے:(و-ین-دے)اسم- وګورئ وېند- جمع ویندی-

وینکښه:(وین-کښـه)اسم صفت- وینه اېستونکې نائته- جمع وینکښې-

وینکښی:(وین-کښی)اسم- د وینې اېستو کار-

وینکښے:(وین-کښے)اسم صفت- وینه اېستونکے نائی-

وینګ:(و-ینګ)حاصل مصدر- وګورئ ریل-

وینګرے:(وینګ-ګـه-رے)اسم صفت- د زمکې پیمائش کونکے- کچ کونکے- ناپ کونکے- جمع وینګری-

وینول:(وی-نـه-ول)مصدر- وینې کول-

وینه:(وی-نـه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)هغه اکسیجن پیدا کونکې مائع چې د انسانانو، مرغانو او څناورو په رګونو کښې ګرځي- د اعلیٰ څناورو داسې مائع په رنګ سره وی- (۲)نسل- (۳)اولاد- جمع وینې-

وینه زوه:(وی-نـه-زوه)اسم- واحد- مؤنث- (۱)د ننګې دننه نر او وینه- (۲)په ګرانه جمع شوې پیسې-

ویوشته:(و-یوش-ته)اسم- واحد- مؤنث- جمع ویوشتې- وګورئ ویاشته-

ویول:(و-یـه-ول)مصدر متعدی- خبرې له راوستل- ګړول- له چا خبرې اېستل- په خبرو کولو مجبورول- ګیول- ګویول-

ونیل:(و-نیل)مصدر- ویل- خبرې کول- ګویا کېدل- ګېدل- ګوېدل-

ویون:(و-یون)اسم- واحد- مذکر- حکم- فرمان- خبر-

ویونکے:(و-یون-کے)صفت فاعل- خبرې کونکے-

ویه:(و-یه)اسم- واحد- مؤنث- اګی- ها- هویه- وویه-

وېدل:(و-ي-دل)مصدر لازم- په یو مخ خبرې کول- عبث خبرې کول-

وېدنه:(و-ي-دڼـه)حاصل مصدر- وګورئ وېدل-

وېدونکے:(و-ي-دون-کے)اسم فاعل- واحد- مذکر- جمع وېدونکي- مؤنث وېدونکې- وګورئ وېدل-

وېده:(و-ي-ده)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ وېدل-

ویخ:(ویخ)اسم- واحد- مذکر- جړ- جرړه- بیخ- لاندې تل- لاندې مونډ-

www.pukhto.net

وېزار :(وی-زار)اسم صفت- مړه خوا- بې پرواه- مُېرا- زړهٔ موړے- مؤنث وېزاره-

وېزارول:(وي-زا-ر-ول)مصدر متعدي- بې نوا کول- بېزارول-

وېزارون:(وي-زا-ر-ون)حاصل مصدر- وګورئ وېزارول-

وېزاروُنکے:(وي-زا-ر-وون-کے)اسم فاعل- وګورئ وېزارول-

وېزارونګ:(وي-زا-ر-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ وېزارول-

وېزارونه:(وي-زا-ر-ونه)حاصل مصدر- وګورئ وېزارول-

وېزارېدل:(وی-را-ري-دل)مصدر لازم- بې پروا کېدل- وېزاره کېدل-

وېزارېدن:(وی-را-ري-دن)حاصل مصدر- وګورئ وېزارېدل-

وېزارېدنګ:(وی-را-ری-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ وېزارېدل-

وېزارېدنه:(وی-را-ری-دنه)حاصل مصدر- وګورئ وېزارېدل-

وېزارېدونکے:(وی-را-ری-دون-کے)اسم فاعل- وګورئ وېزارېدل-

وېزارېدهٔ:(وی-زا-ري-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ وېزارېدل-

وېزه:(وي-زه)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم واښهٔ- جمع وېزې-

وېزه:(وی-زه)اسم- واحد- مؤنث- دَ سرکار له طرفه بل ملک ته دَ تلو اجازت نامه-

وېزې:(وی-زي)اسم- واحد- مؤنث- د وراښکې- (۲)دَ ښځې مله- د ښځې دَ ملې دواړهٔ هډوکي-

وېږ:(وېږ)اسم- د اس د خټې ربسه-

وېږړے:(وېږ-ړے)اسم- مذکر- توکې- توکاڼې-

وېول:(وی-يل)مصدر- غزېدل- وږدېدل- اوږدېدل-

وېون:(وی-ون)اسم- واحد- مذکر- وګورئ وېوے-

وېوه:(وي-وه)اسم- واحد- مؤنث- يو قسم خودرو واښهٔ جمع وېوې-

وېوے:(وي-وے)اسم مفعول- غزېدلے- اُږد شوے- (۲)کنډ- دَ ملنګانو مخصوص کوڅو-

وېسن:(وی-سن)اسم- جمع- مذکر- بې سږ- دَ چڼو اوړه-

وېش:(وېش)اسم- واحد- مذکر- تقسيم- حصه کونه- وېشنه- برخه- ابش- برخې برخې کونه-

وېش:(وېش)اسم- دَ مار لرم زهر- وش-

وېشتګر:(وېښت-ګر)اسم صفت- وېشتګرندے- تقسيم کونکے- وېش کونکے- وېشګر-

وېشتګرندے:(وېښت-ګرن-دے)اسم صفت- وګورئ وېشتګر-

وېشګر:(وېس-ګر)اسم صفت- وګورئ وېشتګر-

وېشګرندے:(وېس-ګرن-دے)اسم صفت- وګورئ وېشتګرندے-

وېشل:(وي-شل)مصدر- تقسيمول-

وېشله:(وي-شه-له)اسم- واحد- مؤنث- د غنمو د اوړو پېره نرمه روټۍ- جمع وېشلې- عام طور سره جمع استعماليږي-

وېښلے:(وي-ښه-لے)اسم صفت- وګورئ وېښل-

وېښن:(وی-ښن)حاصل مصدر- وګورئ وېښل-

وېښنګ:(وی-ښنګ)حاصل مصدر- وګورئ وېښل-

وېښنه:(وی-ښه-نه)حاصل مصدر- وګورئ وېښل-

وېښول:(وی-ښه-ول)مصدر متعدي- بېښول- ښکول-

وېښون:(وي-ښون)اسم- واحد- مذکر- تقسيم- وېش-

وېښون:(وي-ښه-ون)حاصل مصدر- وګورئ وېښول-

وېښوونکے:(وي-ښه-وون-کے)اسم فاعل- جمع وېښوونکي- مؤنث وېښوونکې- وګورئ وېښول-

وېښونګ:(وي-ښه-ونګ)حاصل مصدر- وګورئ وېښول-

وېښونه:(وي-ښه-و-نه)حاصل مصدر- وګورئ وېښول-

وېښونه:(وېښ-ون-نه)اسم- واحد- مؤنث- برخه- حصه- قسمت-

وېښونکے:(وي-ښون-کے)اسم فاعل- جمع وېښونکي- مؤنث وېښونکې- وګورئ وېښل-

وېښه:(وي-ښه)اسم- واحد- تیر- د کوټې تیر-

وېښېدل:(وي-ښي-دل)مصدر لازم- بېښېدل- ښکېدل-

وېښېدلے:(وي-ښي-ده-لے)صفت/مفعول- جمع وېښېدلي- مؤنث وېښېدلې- وګورئ وېښېدل-

وېښېدن:(وی-ښي-دن)حاصل مصدر- وګورئ وېښېدل-

وېښېدنګ:(وي-ښي-دنګ)حاصل مصدر- وګورئ وېښېدل-

وېښېدنه:(وي-ښي-ده-نه)حاصل مصدر- وګورئ وېښېدل-

وېښېدونکے:(وي-ښي-دون-کے)اسم فاعل- وګورئ وېښېدل-

وېښېدهٔ:(وي-ښي-دهٔ)حاصل مصدر او د ماضی استمراری د واحد غائب صیغه- وګورئ وېښېدل-

وېښی:(وي-ښي)اسم- واحد- مؤنث- دمه- آرام-

وېښته:(وېښ-ته)اسم- واحد جمع- مذکر- په حيواناتو او خاص طور سره انساني سر باندې نرې د تار په شان ربیښي-

وېکلے:(وېک-لے)اسم- واحد- مذکر- د ماشومانو د يوې لوبې نوم-

وېګن:(وي-ګن)اسم- واحد- مذکر- څلور پايې لرونکے ګاډے- (م- انګريزي)-

وېل:(وېل)اسم- واحد- مذکر- يو قسم کېړه- جمع وېلونه-

وېلنه:(وی-له-نه)اسم- ارزانی- ويرياتوب-

وېلنے:(وی-له-نے)اسم- واحد- مذکر- وېنلے- اېلنے- يو خودرو ځنګلي بوټے چې د ولو په غاړه کېږي او د ګېډې د درد د پاره ښکارولے شي- ځنګلي پوديڼه- نباتاتي نوم منتها سلوسټرس MENTHA SYLVESTRIS-

وېله:(وي-له)اسم- واحد- مؤنث- وله- وياله- جمع وېلې-

وېنا:(وي-نا)اسم- واحد- مؤنث- (۱)وېناوه- خبره- بيان- تقرير- (۲)شاعري-

وېناوه:(وی-نا-وه)اسم- واحد- مؤنث- وګورئ وېنا- جمع وېناوې-

وېنلے:(وی-نه-لے)اسم- واحد- مذکر- وګورئ وېلنے-

ی (ځي-ړن)، ي (مې-ره-ول)، ې (پيا-لې)، ۍ (تر-دې) تفصيل د پاره وګورئ تشريحات صفحه ۱

www.pukhto.net

وېښه:(وې-ښه)اسم- جمع- مذکر- يو قسم مېوې چې اکثر په ښوره زمکه يا دېوال کښې کېږي-

www pukhto net

ه:(هې)حرف- دَ پښتو دَ حروف تهجي څلويښتم، دَ عربي اُويشتم، دَ فارسي يو دېرشم دَ هندي سرى دېرشم او دَ اردو څلوردېرشم حرف- دَ ابجد پهٔ حساب يې پينځهٔ عدده مقرر دي-

ه:(ه)حرف- دَ هجرى كال علامت لكه سن ۱۴۰۰ه-

ه(هائے مختفى):(ه)چې واضحه نهٔ ويلے لكه لمبه، سره-

ها:(ها)اسم- واحد- مونث- اګي- (۲)نجم- (۳)كلمه تاسف- افسوس-

ها:(ها)دَ هغه مخفف- لكه ها خوا- ها سړے (آ سړے) عاميانه-

هابه:(ها-به)اسم- واحد- مؤنث- ابه- هبه- حمله- يلغار- چپاؤ- شبخون-

هاتف (ها-تف)اسم- واحد- مذكر- (۱)غيبي اواز- (۲)فرشته-

هاتنه:(ها-تَـ-نه)اسم- واحد- مؤنث- دَ هاتي مؤنث- دَ هاتي ماده-

هاتي:(ها-تي)اسم- واحد- مذكر- جرسم لرونكے يو مشهور خناور- جمع هاتيان-

هاتي وان:(ها-تي-وان)اسم- واحد- مذكر- (۱)پهٔ هاتي باندې كار كونكے- جمع هاتي وانان- (۲)وګورئ اتيوان-

هاټ:(هاټ)اسم- واحد- مذكر- اټې- هټې- دوكان- هټ-

هاجي:(ها-جي)اسم- نقل كونكے- هجو كونكے-

هادي:(ها-دي)اسم صفت- هدايت كونكے- پېشوا-

هار:(هار)اسم- ازمائښت- ازميښت-

هار:(هار)اسم- واحد- مذكر- دَ غاړې امېل چې قيمتي كاڼي پكښې پېيللي وي- (۲)دَ ګلونو ګول لړۍ چې پهٔ غاړه كښې اچولے شي-

هار:(هار)لاحقه- لاحقه چې دَ توريو وروستو لګي نو حاصل مصدر ترې جوړ شي لكه شړنګ نه شړنګهار-

هارت:(هارت)اسم صفت- ژرت- دَ اړب هراړ-

هارتول:(هار-تـ-ول)مصدر متعدي- وګورئ ارتول سره دَ لوازماتو-

هارتېدل:(هار-تي-دل)مصدر لازم- وګورئ ارتېدل سره دَ لوازماتو-

هارل:(ها-رل)مصدر متعدي- بائيلل- تاوان كول-

هارلے:(ها-رلے)صفت- جمع هارلي- مؤنث هارلې- وګورئ هارل-

هارن:(ها-رن)حاصل مصدر- (۱)وګورئ هارل- (۲- اسم- واحد- مذكر پهٔ بسونو، لارو، موټرو وغيره كښې لګېدلې يوه اله چې دَ مخالف دَ خبردارۍ كار ترې اخستے شي-

هارنګ:(ها-رنګ)حاصل مصدر- وګورئ هارل-

هارنه:(ها-رنه)حاصل مصدر- وګورئ هارل-

هارون:(ها-رون)صفت- هغه اس چې بده يې كړه وي-

هارونكے:(ها-رون-كے)فاعل- جمع هارونكي- مؤنث هارونكې- وګورئ هارل-

هاړ:(هاړ)اسم- مذكر- اړ- اهاړ- دَ سختې ګرمۍ موسم- دَ بكرمي كال مياشت چې ټهٔ جيټ نه پس او پشكال نه مخكښې وي-

هاره هوره:(ها-ره-هو-ره)صفت- شور شغب- زوږ ووږ- چغ چوغ- نارې سورې- دغ دوغ- الغاؤ ملغاؤ-

هارى هورى:(ها-رى-هو-رى)مؤنث- منت زارى- شور و غوغا- چاپلوسى-

هاسې:(ها-سې)حرف تشبيه متعلق فعل- (۱)هاغسې- (۲)هسې-

هاضم:(ها-ضم)اسم فاعل- واحد- مذكر- هضم كونكے-

هاضمه:(ها-ضـ-مه)اسم- واحد- مؤنث- معده- دَ هضمولو اَله- هضمه-

هاغسې:(ها-غـ-سې)حرف تشبيه- هغه شان- هسې-

هاغومره:(ها-غوم-ره)متعلق فعل- دَ هغه هومره مخفف-

هاغه:(ها-غه)ضمير- هغه- اغه-

هاكر:(ها-كر)اسم- واحد- مذكر- اخبار خرڅونكے- جمع هاكران-

